سرہ دَ قندهاري پښتو

صحيح

مُسلِم شريف

پښتو



تاج کمپني لمېټډ

مَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا

هاغه څه چه دالله رسول ئ تاسوله درکړي
هغه واخلئ او چه د څه نه مو منع کړي د هغي نه ځان او ساتئ

صحیح مُسلِم شریف

مع

مختصر شرح نووی مترجم

جلد دریم

ترجمه:

مولانا حبیب الرحمن
ایم۔ اے اسلامیات، فاضل رابطه المدارس
(جامع تفهیم القرآن مردان)

ناشران:
تاج کمپني لمیټډ
لاهور۔ کراچي۔ راولپنډي۔ پشاور

فهرست د مضامینو د صحیح مسلم مترجم مع شرح نووی جلد پنځم

فهرست د مضامینو د صحیح مسلم مترجم مع شرح نووی جلد پنځم

جلد دریم

جلد دریم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ

د جهاد او د سفر بیان

عَنِ ابْنِ عَوْنٍ قَالَ كَتَبْتُ إِلٰى نَافِعٍ أَسْأَلُهُ عَنِ الدُّعَاءِ قَبْلَ الْقِتَالِ قَالَ فَكَتَبَ إِلَيَّ إِنَّمَا كَانَ ذٰلِكَ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ قَدْ أَغَارَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى بَنِي الْمُصْطَلِقِ وَهُمْ غَارُّوْنَ وَأَنْعَامُهُمْ تُسْقٰى عَلَى الْمَاءِ فَقَتَلَ مُقَاتِلَتَهُمْ وَسَبٰى سَبْيَهُمْ وَأَصَابَ يَوْمَئِذٍ قَالَ يَحْيٰى أَحْسِبُهُ قَالَ جُوَيْرِيَةَ أَوْ قَالَ الْبَتَّةَ ابْنَةَ الْحَارِثِ وَحَدَّثَنِي هٰذَا الْحَدِيْثَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ وَكَانَ فِي ذَاكَ الْجَيْشِ

د ابن عون نه روایت دے چه ما نافع ته اولیکل چه د جنګ نه مخکښې کافرانو ته ددین دعوت ورکول ضروري دي ؟ هغوی په جواب کښې اولیکل چه دا حکم په شروع د اسلام کښې وو (هر کله چه کافرانو ته ددین دعوت رسیدلے نه وو) او جناب رسول خدا ﷺ په بني مصطلق باندے حمله اوکړه. او هغه غافل وو. د هغوی څاروو اوبهٔ څښلے. حضرت ﷺ قتل کړل د هغوی نه هغه کسان چه جنګ ئے کوو او پاتے ئے قید کړل. او په دغه ورځ ئے جویریه لور د حارث لره اونیوه. نافع رحمه الله وائی دا حدیث ما ته عبد الله بن عمر رضی الله عنه بیان کړے دے چه هغوی په دغه لښکر کښې شریك وو[1].

بَابُ تَأْمِيرِ الْإِمَامِ الْأُمَرَاءَ عَلَى الْبُعُوثِ وَوَصِيَّتِهِ إِيَّاهُمْ بِآدَابِ الْغَزْوِ وَغَيْرِهَا

باب : امام به امیرانو لره د جنګ کولو دپاره ښنګه لیږی او هغوی ته به د جنګ طریقے ښنګه ښائی

[1]: نووي رحمه الله وائی ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه کومو کافرانو ته د اسلام دعوت رسیدلے وی په هغوی باندے ناڅاپه حمله کول د غفلت په حالت کښې صحیح دي او په دے مسئله کښې درے مذهبونه دي. یو خو دا چه مطلقاً اطلاع ورکول ضروري دي. دا د امام مالك رحمه الله قول دے او ضعیف دے. دویم دا چه مطلقاً اطلاع ورکول ضروري نهٔ دي. دا ددے نه هم زیات ضعیف دے باطل دے. دریم دا چه کچرے هغوی ته دعوت نهٔ وی رسیدلے نو اطلاع ورکول واجب دي. ورنه مستحب دي. او دغه صحیح دے او دغه مذهب دے د لیث رحمه الله او شافعي رحمه الله او ابوثور رحمه الله او د ابن منذر رحمه الله. او ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه عربو لره غلام او وینځے جوړول صحیح دي ځکه چه بني مصطلق عرب دي د خزاعه اولاد. او دغه د شافعي رحمه الله روستے قول دے. او د مالك رحمه الله او ابوحنیفه رحمه الله او د اوزاعي او د یو جماعت په نزد د عرب غلام او وینځے نه شي جوړیدے او دغه د شافعي زوړ قول دے

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَعَثَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِهِ فِي بَعْضِ أَمْرِهِ قَالَ بَشِّرُوا وَلاَ تُنَفِّرُوا وَيَسِّرُوا وَلاَ تُعَسِّرُوا

د ابوموسیٰ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په خپلو صحابؤ کښې چه به هر کله چا لره د څۀ کار دپاره لیږلو. نو ورته به ئے اوفرمائیل زیرے ورکوه او نفرت مۀ پیدا کوه او اسانی کوه او سختی پرے مۀ غورځوه[1]

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ وَمُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ يَسِّرَا وَلاَ تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلاَ تُنَفِّرَا وَتَطَاوَعَا وَلاَ تَخْتَلِفَا

د حضرت ابوموسیٰ نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ هغوی لره او معاذ لره د یمن په طرف اولیږل نو ورته ئے اوفرمائیل آسانی کوئ او سختی مۀ کوئ او زیری بیانوئ او نفرت مۀ ورکوئ او په اتفاق سره کار کوئ او بے اتفاقی مۀ کوئ

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

ابوموسیٰ د نبی ﷺ نه پشان د شعبه د حدیث روایت کړے دے او

کچرے هغوی هجرت اوکړی نو د مهاجرینو برابر به شی په مال غنیمت او د صلح په حصه کښې. او کۀ هجرت نۀ کوی نو بیا به پشان د عامو خلقو کوم چه په ځنګلو او کلی کښې اوسیږی دوی هم اوسیږی. چه هغوی نه جهاد کوی او نۀ هجرت او په هغوی به احکام د اسلام جاری وی خو په غنیمت کښې او د صلح په مال کښې به حصه نۀ مومی. البته د زکوٰة په مال کښې به کچرے هغه مستحق وی نو حصه مومی امام شافعی وئیلی دی چه مسکینانو وغیره ته به په صدقاتو کښې حصه میلاویږی د چا چه د صلح په مال کښې حصه نشته دے او د صلح مال د لښکر والاؤ دپاره دے. او هغوی ته به د صدقاتو نه نۀ میلاویږی او د هغوی دلیل دا حدیث دے لیکن د مالك او ابوحنیفه په نز دواړه برابر دی او هر یو په دواړو قسمونو کښې صرف کیدے شی. او ابوعبید وئیلی دی چه دا حدیث منسوخ دے دا حکم په اول دور د اسلام کښې وو خو د روستو دلیل نۀ دے. انتهی مختصراً.

امام نووی وئیلی دی چه دد دے حدیث نه معلومه شوه چه جزیه د هر یو کافر نه اخستل روا دی. کۀ عربی وی یا عجمی یا کتابی وی یا مجوسی یا مشرك وغیره. د امام مالك او اوزاعی دغه مذهب دے. او د امام ابوحنیفه په نز د ټولو کافرو نه به جزیه قبولے شی. مګر د عربو د مشرکینو او مجوسونه او د امام شافعی په نز جزیه به نۀ شی قبلیدے مګر د اهل کتابو نه یا مجوس نه کۀ عربی وی یا عجمی. اوس اختلاف دے د جزیے په مقدار کښې. د امام شافعی په نز کم نه کم یو دینار دے په ټول کال کښې. کۀ مالدار وی یا مفلس او زیات چه خومره مقرر کړے شو. او د مالك په نز په سروزرو والاباندے څلور دیناره دی. او په سپینو زرو والاباندے څلویښت درهمه دی په هر کال کښې او د امام ابوحنیفه او احمد په نز په مالدار باندے اتۀ څلویښت درهمه دی. او په متوسط یعنی درمیانه باندے څلیریشت او په فقیر باندے دولس درهمه دی. انتهی.

[1] دد دے دپاره چه خلق دین د اسلام لره زرتر زره قبول کړی. دد دے حدیث نه معلومه شوه چه فقط وعید بیانول او صرف خلقو لره یرول خوف نۀ دے. بلکه دد دے سره د الله تعالی رحمت او کرم او بخشش لره هم بیانول ضروری دی. دغه شان په نابالغو هلکانو او نوو مسلمانانو او ګنهګارانو باندے اسانی کول پکار دی. او دا بیانول پکار دی چه توبه تولو ګناهونو لره غورځوی. او اسلام تولو ګناهونو لره محوه کوی

وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ شُعْبَةَ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ زَيْدِ بْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا

نشته دے په حدیث د زید بن ابی اُنیسه کښې چه په اتفاق سره کار کوئ او یے اتفاقی مه کوئ.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَسَكِّنُوا وَلَا تُنَفِّرُوا

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل آسانی کوئ او سختی مه کوئ او آرام ورکوئ او نفرت مه پیدا کوئ.

باب تَحْرِيمِ الْغَدْرِ

باب: وعده خلافی حرامه ده

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَمَعَ اللهُ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرْفَعُ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ فَقِيلَ هٰذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه الله تعالی رومبو او روستو لره جمع کړی د قیامت په ورځ نو د هر یو وعده ماتونکی جهنډا به اوچته کړے شی او بیا به اووئیلے شی چه دا د فلانی وعده خلافی ده چه د فلانی خوئ دے[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيثِ

عبد الله بن عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه هغسے روایت کړے دے څنګه چه پورته تیر شو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْغَادِرَ يَنْصِبُ اللهُ لَهُ لِوَاءً يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ أَلَا هٰذِهِ غَدْرَةُ فُلَانٍ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د دهوکه باز جهنډه به الله تعالی د قیامت په ورځ پورته کړی. او اوبه وئیلے شی چه دا هغه دهوکه بازی ده د فلانی.

---

[1] امام نووی رحمه الله وئیلی دی چه د عربو دا طریقه وه چه د مشهور کولو دپاره به ئے په بازار کښې جهنډه اودروله. دهوکه باز یعنی وعده خلاف هغه دے چه هغه وعده اوکړی او بیائے نۀ پوره کوی او دد ے حدیث نه د وعده خلاقئ حرام والے ښکاره شو. خاصکر د هغه سړی دپاره چه هغه حاکم وی. ځکه چه دهغهٔ د وعده خلاقئ نه په زرګونو مخلوق د الله تعالی ته نقصان رسیږی. او قاضی عیاض رحمه الله وئیلی دی چه دواړه وعده خلاقئ ترے مراد کیدے شی یو د امام او حاکم چه د خپل رعیت سره دهوکه بازی کوی یا د نورو کافرانو سره یا کوم امانت چه الله تعالی دۀ ته ورکړے دے د هغے حق نۀ ادا کوی یعنی عدل او انصاف نۀ کوی. د الله مخلوق ته آسائش او راحت نۀ ورکوی د هغوی په جان او مال او حق باندے په ناحقه ظلم کوی. دویم رعیت د امام سره چه هغه وعدے لره ماته کړی او بے د شرعی وجې نه د هغے مخالفت اوکړی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د حضرت عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د رسول الله نه چه فرمائیل ئے د هر دهوکه باز دپاره به یوه جهنډه وی دقیامت په ورځ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُقَالُ هٰذِهِ غَدْرَةُ فُلَانٍ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د هر یو وعده ماتونکی دپاره یوه جهنډه به وی د قیامت په ورځ او اوبه وئیلے شی چه دا د فلانی دهوکه بازی ده.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُعْرَفُ بِهِ يُقَالُ هٰذِهِ غَدْرَةُ فُلَانٍ

د حضرت عبد الله بن مسعود نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د هر دهوکه باز به یوه جهنډه وی د قیامت په ورځ چه په هغے به هغه پیژندے شی او اوبه وئیلے شی چه دا د فلانی دهوکه بازی ده.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُعْرَفُ بِهِ

د انس نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د هر دهوکه باز به یوه جهنډه وی د قیامت په ورځ چه په هغے سره به د هغهٔ پیژندګلو کیږی.

عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ عِنْدَ اسْتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د ابو سعید نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی د هر دهوکه باز به د کناتو په سر یو جهنډه وی د قیامت په ورځ.

عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرْفَعُ لَهُ بِقَدْرِ غَدْرِهِ أَلَا وَلَا غَادِرَ أَعْظَمُ غَدْرًا مِنْ أَمِيْرِ عَامَّةٍ

د ابوسعید نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دهر دهوکه باز دپاره به یوه جهنډه وی د قیامت په ورځ چه هغه به اوچته کړے شی د هغهٔ د دهوکه بازئ موافق او یو دهوکه باز به د هغهٔ نه مخکښ نهٔ وی څوک چه د الله د مخلوق حاکم وی او دهوکه بازی کوی[1]

بَابُ جَوَازِ الْخِدَاعِ فِي الْحَرْبِ

باب : په جنګ کښ پټ چل کول او حیله صحیح ده

[1] ځکه چه د هغهٔ د دهوکه بازئ نه یو حکومت ته نقصان رسی په خلاف د غریب د دهوکه بازئ چه په هغے سره یو یا دوه کسانو ته نقصان رسیږی.

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَرْبُ خَدْعَةٌ

د حضرت جابر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی جنګ پټ چل او حیله ده[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَرْبُ خَدْعَةٌ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. جنګ پټ چل او حیله ده.

بَاب كَرَاهَةِ تَمَنِّي لِقَاءِ الْعَدُوِّ وَالْأَمْرِ بِالصَّبْرِ عِنْدَ اللِّقَاءِ

باب: د جنګ ارمان کول منع دی او د جنګ په وخت صبر کول ضروری دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ددشمن سره د مخامخ کیدو تمنا مه کوئ او هر کله چه میلاؤ شئ نو صبر کوئ[2]

عَنْ أَبِي النَّضْرِ عَنْ كِتَابِ رَجُلٍ مِنْ أَسْلَمَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي أَوْفَى فَكَتَبَ إِلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ حِينَ سَارَ إِلَى الْحَرُورِيَّةِ يُخْبِرُهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا الْعَدُوَّ يَنْتَظِرُ حَتَّى إِذَا مَالَتِ الشَّمْسُ قَامَ فِيهِمْ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَاسْأَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ

د ابو النضر نه روایت دے چه دۀ د عبد الله بن اوفی کتاب اولوستلو چه د قبیله اسلم نه وو او د جناب رسول الله ﷺ صحابی وو. هغوی اولیکل عمر بن عبید الله ته هر کله چه هغوی لاړل د خارجیانو خواله کوم چه په حرورا کښې اوسیدل (د هغوی سره د جنګ دپاره) چه رسول الله ﷺ چه په کومو ورځو د دشمن سره ملاقات اوشو نو انتظار ئے کوو تردے پورے چه نمر زوال اوموندو نو اودریدو او اوئے فرمائیل اے خلقو! تمنا مه کوئ ددشمن سره د مخامخ کیدو او د الله تعالی نه سلامتی اوغواړئ. او هر کله چه تاسو د دشمن سره میلاؤ شئ نو صبر کوئ. او دا

---

[1] يعني په جنګ کښې عقلمندی او پټ چل ضرور شته او دا دهوکه بازی نه ده خکه چه دهوکه هغه څۀ ته وئیلے شی چه هغه قول ورکړی او مات ئے کړی او فریب او مکر بل څیز دے هغه د کافرانو سره روا دے. امام نووی وئیلی دی چه په حدیث سره دروغ وئیل په درے خایونو کښې روا دی د هغے نه یو په جنګ کښې دی او مراد ددغه دروغو نه کنایه ده. او ظاهر داده چه حقیقتاً دروغ هم صحیح دی.

[2] او په مضبوط والی سره جنګیږئ او د میدان جنګ نه تیښته مه کوئ.

السُّيُوفِ ثُمَّ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ اَللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الْأَحْزَابِ اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ

اوګنړئ چه جنت د تورو د سورى لاندے دے. بيا حضرت ﷺ اودريدو او اوئے فرمائيل اے الله! د کتاب نازلونکيه او د وريځو چلونکيه او د لښکرو زغلونکيه، اوزغلوه ته دوئ لره. او ددوى په مخکښې زمونږ مدد اوکړه.

بَابُ اسْتِحْبَابِ الدُّعَاءِ بِالنَّصْرِ عِنْدَ لِقَاءِ الْعَدُوِّ

باب : د دشمن سره د مخامخ کيدو په وخت د فتح ددُعا د غوښتلو استحباب

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ دَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْأَحْزَابِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ اهْزِمِ الْأَحْزَابَ اَللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ

د حضرت عبد الله بن ابى اوفىؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ خيرے اوکړے په احزاب (په کومه ورځ چه د کافرانو جماعتونه د حضرت ﷺ سره د جنګ کولو دپاره راغلى وو په سلمه کښې او حضرت ﷺ په خندق کښې وو) نو اوئے فرمائيل چه اے الله! اے نازلونکيه د کتاب ، اے زر حساب اخستونکيه او زغلوه دے لښکرو لره يا الله اوزغلوه دوى لره. اولرزوه دوى لره.

عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى يَقُولُ دَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ خَالِدٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ هَازِمَ الْأَحْزَابِ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَهُ اَللّٰهُمَّ عَنْ إِسْمَعِيلَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ فِي رِوَايَتِهِ مُجْرِيَ السَّحَابِ

د عبد الله بن ابى اوفىؓ نه روايت دے چه خيرے اوکړے رسول الله ﷺ د پورتنى حديث پشان. مګر په دے کښې د اَللّٰهُمَّ لفظ نشته صرف هَازِمَ الْاَحْزَابِ دے. اسماعيل راوى په دے اسناد سره وئيلى دى چه ابن عمر د مُجْرِيَ السَّحَابِ (وريځو لره راليږونکيه) لفظ زيات کړو.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ يَوْمَ أُحُدٍ اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ إِنْ تَشَأْ لَا تُعْبَدْ فِي الْأَرْضِ

د انسؓ نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ د اُحد په ورځ اوفرمائيل چه يا الله! کچرے ته اوغواړے نو څوک به ستا عبادت کولو والا پاتے نه شى په زمکه کښې[1]

---

[1] په دے کښې تسليم دے د اَمرِ الٰهى او رَد دے په قدريو باندے چه هغه وائى د شر خالق الله نه دے. نه د هغهٔ په تقدير سره کيږى او په يو روايت کښې دى چه حضرت ﷺ د بدر په ورځ دا اوفرمائيل اوکيدے شى په دواړو ورځو ئے فرمائيلى وى.

بَابُ تَحْرِيمِ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ فِي الْحَرْبِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ امْرَأَةً وُجِدَتْ فِي بَعْضِ مَغَازِي رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْتُولَةً فَأَنْكَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَتْلَ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ

باب: په جنګ کښې د ښځو او د ماشومانو د قتل کولو ممانعت

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه یوه ښځه اوموندے شوه په یو جنګ کښې د رسول الله ﷺ چه هغه وژلے شوے وه. رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله د ښځو او د بچو د وژلو نه[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ وُجِدَتْ امْرَأَةٌ مَقْتُولَةً فِي بَعْضِ تِلْكَ الْمَغَازِي فَنَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه یو جنګ کښې یوه ښځه قتل کړے شوے اوموندے شوه نو رسول الله ﷺ د ښځو او د ماشومانو د قتل کولو نه منع اوفرمائیله.

بَاب جَوَازِ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ فِي الْبَيَاتِ مِنْ غَيْرِ تَعَمُّدٍ

باب: د شپې کچرے چهاپه اووهي نو د ښځو او د ماشومانو وژل صحیح دي. په شرط دد دے سره چه قصداً نۀ وي

عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الذَّرَارِيِّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ يُبَيَّتُونَ فَيُصِيبُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ وَذَرَارِيِّهِمْ فَقَالَ هُمْ مِنْهُمْ

د صعب بن جثامه نه روایت دے وائي چه د رسول الله ﷺ نه د مشرکینو د اولاد په باره کښې تپوس اوکړے شو هر کله چه د شپې په چهاپه کښې اووژلے شي دغه شان د هغوی ښځے. حضرت ﷺ اوفرمائیل. هغه په دوی کښې داخل دي[2].

---

[1] : نووي رحمه الله وئیلي دي چه اجماع ده د علماؤ په دے باندے چه د ښځو او د بچو وژل نۀ دي پکار په شرط دد دے چه هغه نۀ جنګیږي او کچرے جنګیدل نو قتل کولے به شي. دغه شان د ضعیفانو او د بوډاګانو وژل هم ناجائز دي په دے شرط چه هغوی مشوره نۀ ورکوي ورنه قتل کولے به شي. او د نصراني درویشانو په وژلو کښې اختلاف دے. د مالك او ابوحنیفه رحمه الله په نزد به نۀ وژلے کیږي او د امام شافعي رحمه الله په نزد به قتل کولے شي

[2] يعني ددنیا په حکم کښې او د هغوی شمار په کافرانو کښې دے. نو د شپې چه هر کله تیارۀ وي او پیژند ګلو نۀ شي کیدے نو د لویو سره کچرے ښځے او بچي هم قتل شي نو په هیڅا باندے ګناه نشته دے. او په آخرت کښې د کافرو په اولاد کښې اختلاف دے لیکن صحیح مذهب دا دے چه هغه جنتیان دي. او دویم مذهب دا دے چه جهنمي دي او دریم مذهب دا چه چا ته معلومه نۀ ده.

عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّا نُصِيبُ فِي الْبَيَاتِ مِنْ ذَرَارِيِّ الْمُشْرِكِينَ قَالَ هُمْ مِنْهُمْ

د صعب بن جثامة رضي الله عنه نه روايت دے. ما عرض اوكړو چه يا رسول الله ! مونږ خو د شپے په چهاپه كښں د مشركانو اولاد هم وژنو. حضرت ﷺ اوفرمائيل هغه هم په مشركانو كښں داخل دي.

عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيلَ لَهُ لَوْ أَنَّ خَيْلًا أَغَارَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَأَصَابَتْ مِنْ أَبْنَاءِ الْمُشْرِكِينَ قَالَ هُمْ مِنْ آبَائِهِمْ

د صعب بن جثامة رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ته عرض اوكړے شو. كچرے سوارۀ د شپے حمله اوكړي او د مشركانو بچي قتل شي. حضرت ﷺ اوفرمائيل. هغوي هم د هغوي نه دي (يعني د مشركانو نه)

بَابُ جَوَازِ قَطْعِ أَشْجَارِ الْكُفَّارِ وَتَحْرِيقِهَا

باب : د كافرانو اونے كاټ كول او سوزول صحيح دي

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّقَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ وَقَطَعَ وَهِيَ الْبُوَيْرَةُ زَادَ قُتَيْبَةُ وَابْنُ رُمْحٍ فِي حَدِيثِهِمَا فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د بني نضير د كهجورو اونے اوسيزلے او كټ ئے كړلے چه هغے ته به ئے بويره وے. پس الله تعالى دا آيت نازل كړو. كومے اونے چه تاسو كټ كړے يا مو پريخودے هغوى لره په خپلو زيلو باندے پس دا د الله تعالى په حكم سره وو. ځكه چه رسوا كړي ګنهګارانو لره[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَطَعَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ وَحَرَّقَ وَلَهَا يَقُولُ حَسَّانُ :

وَهَانَ عَلَى سَرَاةِ بَنِي لُؤَيٍّ
حَرِيقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيرُ

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د بني نضير اونے كټ كړے او اونے سيزلے او د حسان بن ثابت دا شعر په دے باب كښں دے. ترجمه د هغے داده. آسان شول د بني لؤي شريفانو او سردارانو ته سيزل د بويره چه د هغے انكار رالوتلو.(د

[1] نووي رحمه الله وئيلي دي دے حديث نه دا خبره معلومه شوه چه د كافرانو اونے كټ كول يا سيزل دغه شان د هغوى باغ يا پټي ضائع كول صحيح دي او دغه قول دے د امام ابوحنيفه رحمه الله او مالك رحمه الله او شافعي رحمه الله او احمد رحمه الله او د اسحق رحمه الله. او د ابوبكر صديق رضي الله عنه او ليث رحمه الله او اوزاعي رحمه الله او ابوثور په نز صحيح نه دي.

وَفِي ذٰلِكَ نَزَلَتْ مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْتَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلٰى أُصُولِهَا الْآيَةَ

بنی لؤی نه مراد قریش دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ حَرَّقَ رَسُولُ اللهِ ﷺ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ د بنی نضیر د کهجورو اونے اوسیزلے.

بَاب تَحْلِيلِ الْغَنَائِمِ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ خَاصَّةً

باب: خاص دد ے امت دپاره د غنیمت مال حلالیدل

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَقَالَ لِقَوْمِهِ لَا يَتْبَعْنِي رَجُلٌ قَدْ مَلَكَ بُضْعَ امْرَأَةٍ وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَبْنِيَ بِهَا وَلَمَّا يَبْنِ وَلَا آخَرُ قَدْ بَنَى بُنْيَانًا وَلَمَّا يَرْفَعْ سُقُفَهَا وَلَا آخَرُ قَدِ اشْتَرَى غَنَمًا أَوْ خَلِفَاتٍ وَهُوَ مُنْتَظِرٌ وِلَادَهَا قَالَ فَغَزَا فَأَدْنَى لِلْقَرْيَةِ حِينَ صَلَاةِ الْعَصْرِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذٰلِكَ فَقَالَ لِلشَّمْسِ أَنْتِ مَأْمُورَةٌ وَأَنَا مَأْمُورٌ اللّٰهُمَّ احْبِسْهَا عَلَيَّ شَيْئًا فَحُبِسَتْ عَلَيْهِ حَتّٰى فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ قَالَ فَجَمَعُوا مَا غَنِمُوا فَأَقْبَلَتِ النَّارُ لِتَأْكُلَهُ فَأَبَتْ أَنْ تَطْعَمَهُ فَقَالَ فِيكُمْ غُلُولٌ فَلْيُبَايِعْنِي مِنْ كُلِّ قَبِيلَةٍ رَجُلٌ فَبَايَعُوهُ فَلَصِقَتْ يَدُ رَجُلٍ بِيَدِهِ فَقَالَ فِيكُمُ الْغُلُولُ فَلْتُبَايِعْنِي قَبِيلَتُكَ فَبَايَعَتْهُ قَالَ فَلَصِقَتْ بِيَدِ رَجُلَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةٍ

د همام بن منبهؒ نه روایت دے وائی چه دا ما ته ابوهریرةؓ فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل جهاد کوؤ یو پیغمبرؑ د پیغمبرانو نه نو خپل قوم ته ئے اووے. چه څما سره به هغه سړے نه ځی چا چه نکاح کړے ده. او هغه غواړی چه د خپلے ښځے سره صحبت اوکړی او لا تر اوسه ده صحبت نهٔ وی کړے. او نهٔ به را سره هغه سړے ځی چه هغه د کور بنیادونه جوړ کړی وی او لا تراوسه ئے پرے چهت پورته کړے نهٔ وی. او نهٔ به راسره هغه سړے ځی چا چه بزے یا حملدار اوښے اخستے وی او د هغوی د اولاد زیږولو په امید کښې وی (ځکه چه ددغه خلقو زړهٔ به ددغه څیزونو سره لګیدلے وی او په آرام سره به جهاد نهٔ شی کولے) بیا هغه پیغمبرؑ جهاد اوکړو نو د مازیګر په وخت یا مزیګر ته نږدے هغه کلی ته اوسیدو (چرته چه جهاد کول وو) نو پیغمبر نمر ته اووے. ته هم تابعدار ئے او زهٔ هم تابعدار یم یا الله دے حصار کړه لږ ساعت څما دپاسه (ددے دپاره چه د خالی ورځ را نهٔ شی ولے چه د هفتے په ورځ جنګ کول حرام وو او دا جنګ د جمعے په ورځ شوے وو) بیا نمر حصار شو تر دے پورے چه الله فتح ورکړه هغوی لره او بیا خلقو را جمع کړو د غنیمت مال لره. او د اور شغله (د اسمان نه راغله) د هغے د خوراك دپاره. لیکن هغه ئے او نهٔ خوړه. پیغمبرؑ اوفرمائیل په تاسو کښې چا غلا کړے ده بیا هغوی

فَقَالَ فِيكُمُ الْغُلُولُ أَنْتُمْ غَلَلْتُمْ قَالَ فَأَخْرَجُوا لَهُ مِثْلَ رَأْسِ بَقَرَةٍ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ فَوَضَعُوهُ فِي الْمَالِ وَهُوَ بِالصَّعِيدِ فَأَقْبَلَتِ النَّارُ فَأَكَلَتْهُ فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ مِنْ قَبْلِنَا ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى رَأَى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَطَيَّبَهَا لَنَا

د غوئي د سر برابر سرۀ زر راواخستل او هغه ئے هم په هغه مال کښ کیښودو (کوم چه ئ د سیزلو دپاره په زمکه باندے ایخودے وو) او د هغې په زمکه باندے د ایخودو سره شغله د اُور راغله او هغه ئے اوخوړو. او زمونږ نه مخکښ د چا دپاره غنیمتونه روا نۀ وو او زمونږ دپاره روا شو ځکه چه الله تعالی زمونږه کمزوری او عاجزی اولیده نو حلال ئے کړو زمونږ دپاره هغې لره[1].

[1] : دا پیغمبر حضرت یوشع بن نون علیه السلام وو د حضرت موسیٰ علیه السلام خلیفه د شام په ملك کښ په اریحا نوم ښار کښ جنگ شوے وو د جمعے په ورځ. الله تعالی د هغوی په دُعا سره دا اودرولې په دے طریقه باندے وو چه نمر واپس کړے شو خپل رومبی مقام باندے یا اودریدلے وو په هغه ځائے باندے چرته چه وو یا ئے په حرکت کښ سستی راغلے وه. او دا تولے خبرے معجزے دی او زمونږ د پیغمبر ﷺ دپاره هم دوه ځله نمر اودرولے شوے دے یو خو د خندق په ورځ چه هر کله د مازیګر مونځ قضا شوے وو. او الله پاك نمر واپس کړو تردے پورے چه د مازیګر مونځ ئے ادا کړو. ذکر کړی دی دے لره طحاوی او ونیلی دی چه ددے راویان ثقه دی دویم د معراج په سحر هر کله چه حضرت ﷺ د قافلے د راتلو خبر ورکړے وو د نمر د راختلو سره. دے لره یونس ابن بکیر د سیرت ابن اسحٰق په زیادت کښ نقل کړی دی. او حضرت یوشع بن نون د نوی وادۀ خلقو ته او د ختاورو او کور جوړونکو خلقو لره په جهاد کښ وانۀ خستل ولے چه د هغوی زړونه به په دغے کښ لګیدلے وی او جهاد به تر ے په ښۀ طریقه نۀ کیږی. معلومه شوه چه جهاد کول د فارغ البال خلقو نه ښۀ کیږی. او په رومبو امتونو کښ معمول وو چه قربانئ او د غنیمت مال لره به آسمانی اُور سیزلو او دغه ئے د قبلیدو نخښه وه او د غنیمت مال اخستل هغوی لره حلال نۀ وو. او امت د محمد ﷺ دپاره حلال شو. د اردو کتاب مترجم ونیلی دی چه ددے حدیث د ظاهر نه دا معلومیږی چه نمر د زمکے نه چاپیره ګردش کوی او د پخوانو یونانی حکیمانو هم دغه خیال وو او د مسلمانانو په حساب کښ چه هغوی د یونانیانو نه حاصل کړے دے دغه ثابت شوے دے. او د یو تولی د حکماء او د حال د اهلِ هینت والا دا قول دے چه زمکه ګردش کوی. او کچرے دغه قول صحیح وی نو د حبس شمس نه دا مراد دے چه حبس ارض او شولو او صورتًا لکه حبس شمس اوشولو ولے چه نمر په ظاهر کښ روان معلومیږی لکه ځنګه چه د ریل یا کشتئ نه تول بوټی او کورونه روان په نظر راځی اوس کۀ دا حصاریدل په اودرویدو سره وی یا په واپس تلو سره وی یا کۀ د حرکت په سست کیدو سره وی په هر شان ممکنه ده. او ددے خبر صرف ځۀ په حدیث کښ نۀ دے بلکه په اسمانی کتاب یعنی تورات شریف کښ موجود دے. بیا چه کوم امر ممکن دی په هغے باندے د الله تعالی قدرت دے. او دا ناشنا د حماقت خبره ده چه الله تعالی لره په دے تولو ځیزونو کښ د حرکت ورکولو او په یوه مقرر لاره باندے د چلولو او د توپ د ګولئ نه ځو حصے د زیات تیز واپس کولو قدرت وی. بیا د واپس راویستلو یا د اودرولو قدرت به ئے ځنګه نۀ وی. داسے خیال هغه خلق کوی چه د هغوی عقلونه کمزوری دی یا هغه په ښه شان له غور نۀ کوی ورنه کوم پروردګار چه دومره لوئے لوئے دنیا ګانے چه هغه د زمکے نه په زرګونو لکونو حصے لوئے دی پیدا کړی دی او هغه تولے په خلو مقرره لارو باندے چکر لګوی. او ممکنه نۀ ده چه یو هم د خپل ځائے نه د رتئ برابر اخوا دیخوا شی. یا د بل سره اوجنګیږی. نو ولے د هغۀ نه دا نۀ شی کیدے چه ددے لره اودروی یا د هغے حرکت کم کړی. افسوس دغه خلقو د الله تعالی په قدرت او طاقت باندے غور نۀ دے کړے ورنه د داسے بے وقوفئ خیال به ئے چرته هم نۀ وو کړے او د شیطان په دے دهوکه کښ به چرته هم نۀ وو پریوتی.

بَاب الْأَنْفَالِ

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَخَذَ أَبِي مِنَ الْخُمْسِ سَيْفًا فَأَتَى بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَبْ لِي هٰذَا فَأَبَى فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُولِ

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ نَزَلَتْ فِيَّ أَرْبَعُ آيَاتٍ أَصَبْتُ سَيْفًا فَأَتَى بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ نَفِّلْنِيهِ فَقَالَ ضَعْهُ ثُمَّ قَامَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعْهُ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُ ثُمَّ قَامَ فَقَالَ نَفِّلْنِيهِ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ ضَعْهُ فَقَامَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ نَفِّلْنِيهِ أُوجَعَلُ كَمَنْ لَا غَنَاءَ لَهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعْهُ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُ قَالَ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلّٰهِ

باب : د غنیمت د مال بیان

د مصعب بن سعد ؓ نه روایت دے چه هغوی د خپل پلار نه اوریدلی دی چه وئیل ئے ما د خُمس نه یوه توره واخسته بیا د رسول الله ﷺ خواله راغلم او عرض مے اوکړو چه دا توره ما ته اوبخښه حضرت ﷺ انکار اوکړو نو الله تعالی دا ایت نازل کړو يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُولِ (یعنی تپوس کوی ستا نه د لوټ د مالونو په باره کښ ته ورته اووایه چه د مال غنیمت د الله د پاره او د هغهٔ د رسول د پاره دے)

د مصعب بن سعد نه روایت دے هغوی اوریدلی دی د خپل پلار نه وائی چه څما په باره کښ څلور ایتونه نازل شوی دی. یو ځل ما ته یوه توره میلاؤ شوه په لوټ کښ هغه د رسول الله ﷺ خواله راوړے شوه. ما اووے یا رسول الله ﷺ دا ما ته راکړئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل دے لره کیږده. بیا زهٔ اوریدم نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل کیږده دے لره د کوم ځائے نه چه تا اخستی ده ما اووے یا رسول الله دا توره ما ته راکړئ. ولے زهٔ به د هغه سړی پشان اوسیږم کوم چه نادار دے. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل کیږده دے لره د کوم ځائے نه چه تا اخستی ده بیا دا ایت نازل شو: يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُولِ [1]

---

[1] : سعد دلته دغه یو ایت لره بیان کړے دے. او په دے ایت کښ اختلاف دے. څنو وئیلی دی چه منسوخ دے په دے ایت سره وَعَلَمُوا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْئٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَه وَلِلرَّسُولِ ...... د آخره پورے. او د رومبی ایت منسوخ دا وو چه د لوټ مال د رسول الله ﷺ دے. بیا په دویم ایت سره یو خمس د هغے د الله او د هغهٔ د رسول د پاره اوګرځیدو. او څلور خمسه د مجاهدینو د پاره او دغه قول دے د ابن عباس او د یو جماعت. او بعضو وئیلی دی چه دا ایت محکم دے او امام لره اختیار دے چه د غنیمتونو نه چا لره چه خومره غواړی انعام ورکړی او څنو وئیلی دی چه دا ایت خاص د سرایا د لوټ کښ دے. په بل روایت کښ دی چه بیا حضرت ﷺ هغه توره سعد ته ورکړه او ورته ئے اوفرمائیل چه واخله دا الله تعالی ما ته راکړه او ما تا ته درکړه. (نووی)

وَالرَّسُوْلِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً وَأَنَا فِيهِمْ قِبَلَ نَجْدٍ فَغَنِمُوا إِبِلًا كَثِيرَةً فَكَانَتْ سُهْمَانُهُمْ اثْنَا عَشَرَ بَعِيرًا أَوْ أَحَدَ عَشَرَ بَعِيرًا وَنُفِّلُوا بَعِيرًا بَعِيرًا

د ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د جند په طرف یو سریه اولیږله چه زهٔ هم ورسره وم. د هغه ځائے نه ډیر زیات اوښان په لوټ کښې راغلل. نو د هر یو په حصه کښې دولس دولس یا یولس یولس اوښان راغلل او یو یو اوښ په انعام کښې میلاؤ شو[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ بَعَثَ سَرِيَّةً قِبَلَ نَجْدٍ وَفِيهِمُ ابْنُ عُمَرَ وَأَنَّ سُهْمَانَهُمْ بَلَغَتِ اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا وَنُفِّلُوا سِوَى ذٰلِكَ بَعِيرًا فَلَمْ يُغَيِّرْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابن عمرؓ نه روایت دے چه د یو جهاد دپاره یو جماعت د نجد طرف ته لاړهٔ په هغے کښې ابن عمرؓ هم وو. نو د مالِ غنیمت نه هر یو ته دولس دولس اوښان میلاؤ شو. او یو یو اوښ د انعام په طور میلاؤ شو. نو رسول اللهﷺ په هغے کښې څهٔ بدلون اونهٔ فرمائیلو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً إِلَى نَجْدٍ فَخَرَجْتُ فِيهَا فَأَصَبْنَا إِبِلًا وَغَنَمًا فَبَلَغَتْ سُهْمَانُنَا اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا وَنَفَّلَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعِيرًا بَعِيرًا

د ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ یو جماعت د جهاد دپاره نجد طرف ته اولیږهٔ او زهٔ هم په کښې وم نو زمونږ په لاس مالِ غنیمت او اوښان راغلل. نو زمونږ په حصه کښې دولسْ دولس اوښان راغلل. او رسول اللهﷺ یو یو اوښ د انعام په طور هم مونږ ته راکړو.

عَنْ نَافِعٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ

د نافعؓ نه په دے اسناد سره د پورتنو حدیثونو پشان دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ نَفَّلَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه مونږ ته رسول

---

[1] نوویؒ وئیلی دی په انعام یعنی نفل باندے اجماع ده د علماؤ لیکن اختلاف دے چه دا نفل به د کوم ځائے نه ورکولے شی. آیا د اصل لوټ نه یا د هغے څلورو د پنځم نه یا د خمس د خمس نه او د شافعیؒ په دے کښې درے قولونه دی او صحیح دادے چه هغه به نے خمس د خمس نه ورکولے شی. او دغه مذهب دے د ابن مُسیبؒ او مالکؒ او د ابوحنیفهؒ او د حسن بصریؒ او اوزاعیؒ او احمدؒ او ابوثورؒ په نزد د لوټ نه به ورکولے شی. او نفل د امام په رائے باندے منحصره ده. کومو خلقو لره چه مناسب ګنړی ورکوی ئے. چنانچه د ابن عمر دا وینا چه د انعام نه یو یو اوښ دِ دے نه غرض دادے چه کوم خلق د انعام مستحق وو هغوی ته میلاؤ شو نه د سریے تولو خلقو ته (نووی مختصراً)

اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَلًا سِوَى نَصِيبِنَا مِنَ الْخُمُسِ فَأَصَابَنِي شَارِفٌ وَالشَّارِفُ الْمُسِنُّ الْكَبِيرُ

الله ﷺ سوا زمونږ د حصے نه د خمس نه زياته راكړه. نو څما په حصه كښې يو شارف راغے. شارف د ډير عمر والا اوښ ته وائي.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ بَلَغَنِي عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَفَّلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ سَرِيَّةً بِنَحْوِ حَدِيثِ ابْنِ رَجَاءٍ

ابن شهاب وئيلي دي چه ما ته د ابن عمرؓ نه دا حديث رااورسيدۀ چه رسول الله ﷺ يوه سريّه اوليږله. مخكښې د پورته حديث پشان دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِؓ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ مِنَ السَّرَايَا لِأَنْفُسِهِمْ خَاصَّةً سِوَى قَسْمِ عَامَّةِ الْجَيْشِ وَالْخُمُسُ فِي ذٰلِكَ وَاجِبٌ كُلِّهِ

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے ، رسول الله ﷺ به كله بعضے سريّے والاؤ ته حصه زياته وركوله. په نسبت د نورو ټولو لښكريانو. او خُمس په دغه ټولو مالونو كښې واجب وو.

بَابُ اسْتِحْقَاقِ الْقَاتِلِ سَلَبَ الْقَتِيلِ

باب : قاتلانو لره د مقتول سامان وركول

عَنْ أَبِي مُحَمَّدٍ الْأَنْصَارِيِّ وَكَانَ جَلِيسًا لِأَبِي قَتَادَةَ قَالَ قَالَ أَبُو قَتَادَةَ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ

د ابو محمد انصاريؓ نه روايت دے چه د ابوقتادهؓ مصاحب وو. وائي چه ابوقتادهؓ وئيلي دي او بيا ئے ذكر كړو حديث لره (لكه چه مخكښې راغي)

عَنْ أَبِي مُحَمَّدٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ قَالَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ

د ابوقتادهؓ غلام ابو محمدؓ نه روايت دے چه ابوقتادهؓ اووئيل. مخكښې حديث بيان كړو (څنګه چه مخكښې راغي)

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حُنَيْنٍ فَلَمَّا الْتَقَيْنَا كَانَتْ لِلْمُسْلِمِينَ جَوْلَةٌ قَالَ فَرَأَيْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَدْ عَلَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَاسْتَدَرْتُ إِلَيْهِ حَتَّى أَتَيْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ فَضَرَبْتُهُ عَلَى

د ابوقتادهؓ نه روايت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره اوتو د جنګ حنين په كال. پس هر كله چه مونږ د دشمنانو سره مخامخ شو نو مسلمانانو شكست اوخوړو (يعنى څه مسلمانان اوتختيدل او څۀ د حضرت ﷺ سره په ميدان كښې پاتے شو) بيا ما يو كافر اوليدۀ چه په يو مسلمان ئے حمله كوله (د هغۀ د وژلو دپاره) زۀ راتاؤ شوم په هغۀ پسے د شا د

حَبْلَ عَاتِقِهِ وَأَقْبَلَ عَلَيَّ فَضَمَّنِي ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِيحَ الْمَوْتِ ثُمَّ أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَأَرْسَلَنِي فَلَحِقْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقَالَ مَا لِلنَّاسِ فَقُلْتُ أَمْرُ اللهِ ثُمَّ إِنَّ النَّاسَ رَجَعُوا وَجَلَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ قَالَ فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ ثُمَّ قَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ ثُمَّ قَالَ ذٰلِكَ الثَّالِثَةَ فَقُمْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَكَ يَا أَبَا قَتَادَةَ فَقَصَصْتُ عَلَيْهِ الْقِصَّةَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ صَدَقَ يَا رَسُولَ اللهِ سَلَبُ ذٰلِكَ الْقَتِيلِ عِنْدِي فَأَرْضِهِ مِنْ حَقِّهِ وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ لَا هَا اللهِ إِذًا لَا يَعْمِدُ إِلَى أَسَدٍ مِنْ أُسْدِ اللهِ يُقَاتِلُ عَنِ اللهِ وَعَنْ رَسُولِهِ فَيُعْطِيكَ سَلَبَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ فَأَعْطِهِ إِيَّاهُ فَأَعْطَانِي قَالَ فَبِعْتُ الدِّرْعَ فَابْتَعْتُ بِهِ مَخْرَفًا فِي بَنِي سَلِمَةَ فَإِنَّهُ لَأَوَّلُ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ فِي الْإِسْلَامِ وَفِي حَدِيثِ اللَّيْثِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ كَلَّا لَا

طرفنه او د څټ په ویخ کښې مې ورته ګذار ورکړو هغۀ ماله دومره زور راکړو چه د مرګ تصویر ئې راته اوښودلو او ددے نه پس هغه پخپله مړ شو او زۀ ئې پریخودم. بیا زۀ د حضرت عمرؓ سره میلاؤ شوم.هغوی اووئے دے خلقو له څۀ شوی دی (چه داسے دوی اوتښتیدل) ما اووے د الله حکم دے بیا خلق واپس شو او رسول الله ﷺ کیښناستو او اوئې فرمائیل چا چه څوك وژلے وی او ګواه ئې پرے وی نو سامان به ئې هغه اخلی. ابوقتادهؓ وائی دے خبرے په اوریدو سره زۀ اودریدم او بیا ما اووے څما ګواه څوك دے؟ او بیا کیښناستم .بیا حضرتﷺ داسے اوفرمائیل په دویم څل باندے. زۀ اودریدم بیا ما اووے څما دپاره به ګواهی څوك ورکړی او کیښناستم. بیا په دریم څل حضرتﷺ دغه شان اوفرمائیل . زۀ اودریدم. آخر رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه تاله څۀ شوی دی اے ابوقتاده! ما ورته ټوله قصه بیان کړه. یو سړی اووے یا رسول اللهﷺ ابوقتادهؓ رښتیا وائی . ددے سړی سامان څما سره دے تاسو راضی کړئ دوی لره چه خپل حق ما ته راکړی. ددے خبری په اوریدو سره حضرت ابوبکر صدیقؓ اووے چه نا په خدائے قسم داسے چرته هم نۀ شی کیدے. او رسول الله ﷺ به چرته هم داسے اراده او نۀ کړی د الله تعالی د زمرو نه چه هغه جنګیږی د الله تعالی او د هغۀ د رسول د طرفنه تاله د اسبابو درکولو دپاره. رسول الله ﷺ اوفرمائیل ابوبکر رښتیا وائی (ددے حدیث نه د ابوبکر صدیق لوئے

يُعْطِيهِ أُضَيْبِعَ مِنْ قُرَيْشٍ وَيَدَعُ أَسَدًا مِنْ أُسْدِ اللهِ وَفِي حَدِيثِ اللَّيْثِ لَأَوَّلُ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ

فضیلت ثابت شو چه هغوی د رسول الله ﷺ په مخکښې فتوی ورکړه او حضرت ﷺ ورته صحیح اووے، ته ورکړه ابوقتاده لره هغه سامان بیا هغوی هغه سامان ما ته راکړو. ابوقتاده وائی ما (د هغه سامان نه) زغره خرڅه کړه او د هغے په بدل کښې مے یو باغ واخستو د بنو اسلم په محله کښې او دا رومبے مال وو چه ما اوګټلو د اسلام په حالت کښې. او د لیث په روایت کښې دادی چه حضرت ابوبکر صدیق اووے هر ګز نه. رسول الله ﷺ دا اسباب به چرته هم در نه کړی د قریشو یوه ګیدړه، چرته به هم نهٔ پریږدی یو زمری لره د الله د زمرو نه[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّهُ قَالَ بَيْنَا أَنَا وَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ نَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي وَشِمَالِي فَإِذَا أَنَا بَيْنَ غُلَامَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ حَدِيثَةٍ أَسْنَانُهُمَا تَمَنَّيْتُ لَوْ كُنْتُ بَيْنَ أَضْلَعَ مِنْهُمَا فَغَمَزَنِي أَحَدُهُمَا فَقَالَ يَا عَمِّ هَلْ تَعْرِفُ أَبَا جَهْلٍ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ وَمَا حَاجَتُكَ إِلَيْهِ يَا ابْنَ أَخِي قَالَ

د عبد الرّحمٰن بن عوف نه روایت دے زهٔ د بدر په جنګ کښې په صف کښې ولاړ وم ما چه خپل ښی او ګس طرفته اوکتل نو دوه د انصارو هلکان مے په نظر راغلل نوجوان او کم عمر. ما ارزو اوکړه چه کاش زهٔ د دوی نه د زور آور سړی په خواه کښې وے (یعنی آزو بازو ښهٔ مضبوط خلق وے زیات آرام به وے) په دے کښې یو د هغوی نه زهٔ اوخوزولم. او راته ئے اووے اے ترهٔ ته ابوجهل لره پیژنے؟ ما

---

[1] یعنی د مقتول سامان به قاتل ته میلاېږی دا حضرت ﷺ د رغبت ورکولو دپاره اوفرمائیل. ددے دپاره چه خلق د جنګ دپاره تیار شی او کافران اووژنی. نووی ونیلی دی علماؤ اختلاف کړے دے ددے حدیث په معنی کښې. نو د شافعی او مالک او اوزاعی او لیث او ثوری او ابوثور او احمد او اسحق او د ابن جریر په نز به په تولو جنګونو کښې د مقتول سامان قاتل ته میلاویږی خواه کهٔ حاکم داسے حکم ورکړی وی یا ئے نهٔ وی ورکړے. او د امام ابوحنیفه او مالک په نز به دا سامان په مال غنیمت کښې شریکولے شی او په دی کښې به د تولو حصه وی مګر هر کله چه حاکم حکم داسے اوکړی نو صرف قاتل ته به میلاویږی.

نووی ونیلی دی د صحیح مسلم په نسخو کښې ضبیع دے په ضاد معجمه او عین سره چه تصغیر دے د قیاس خلاف د ضبع او ضبع وینا وانی او په بعضو نسخو کښې صبیغ دے په صاد مهمله او غین معجمه سره چه د هغے معنی ده بدرنګ یا هغه یوه مرغئ ده او مقصود ددے نه سپکاوے دے د هغه سړی د ابوقتاده په مقابله کښې.

أُخْبِرْتُ أَنَّهُ يَسُبُّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَئِنْ رَأَيْتُهُ لَا يُفَارِقُ سَوَادِي سَوَادَهُ حَتَّى يَمُوتَ الْأَعْجَلُ مِنَّا قَالَ فَتَعَجَّبْتُ لِذَلِكَ فَغَمَزَنِي الْآخَرُ فَقَالَ مِثْلَهَا قَالَ فَلَمْ أَنْشَبْ أَنْ نَظَرْتُ إِلَى أَبِي جَهْلٍ يَزُولُ فِي النَّاسِ فَقُلْتُ أَلَا تَرَيَانِ هَذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِي تَسْأَلَانِ عَنْهُ قَالَ فَابْتَدَرَاهُ فَضَرَبَاهُ بِسَيْفَيْهِمَا حَتَّى قَتَلَاهُ ثُمَّ انْصَرَفَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَاهُ فَقَالَ أَيُّكُمَا قَتَلَهُ فَقَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنَا قَتَلْتُ فَقَالَ هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا قَالَا لَا فَنَظَرَ فِي السَّيْفَيْنِ فَقَالَ كِلَاكُمَا قَتَلَهُ وَقَضَى بِسَلَبِهِ لِمُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ وَالرَّجُلَانِ مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ وَمُعَاذُ بْنُ عَفْرَاءَ

اووے آو او ستا څۀ مطلب دے د ابوجهل نه اے خما د ورارۀ. هغۀ اووے ما اوریدلی دی چه ابوجهل رسول الله ﷺ ته کنځل کوی. قسم دے په هغه ذات چه د هغۀ په لاس کښ خما روح دے کچرے ما ابوجهل اوموندۀ نو د هغۀ نه به جدا نۀ شو د کومے پورے چه یو پکښ را نه مړ نۀ وی د چا مرګ چه مخکښ راغلے وی. عبد الرّحمٰن وائی زۀ حیران شوم ددۀ په داسے وینا، چه د ماشوم والی باوجود د ابوجهل غوندے قوی سړی د وژلو اراده لری، بیا هغه دویم زۀ اوخوزولم او هم دغسے ئے اووے. لږ ساعت تیر نۀ وو چه ما ابوجهل اولیدۀ چه په خلقو کښ ګرځیدۀ.ما هغه دواړو هلکانو ته اووے دغه هغه سړے دے د چا چه تاسو تپوس کولو. ددے په اوریدو سره هغوی دواړو منډے کړے او په تورو ئے ابوجهل اووهو تردے پورے چه مړ ئے کړو بیا دواړه واپس د رسول الله ﷺ خواله راغلل او دا حال ئے ورته بیان کړو. حضرت ترے تپوس اوکړو پتاسو کښ کوم یو هغه اووژلو؟ هر یو ونیل چه ما وژلے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه آیا تاسو تورے صفا کړی؟ هغوی اووے نۀ دی صفا کړی. بیا حضرت د دواړو تورے اوکتلے او اونے فرمائیل چه تاسو دواړو هغۀ لره وژلے دے. بیائے د هغۀ سامان معاذ بن عمرو بن جموح ته ورکړو او هغه دواړه هلکان دغه وو یو معاذ بن عمرو بن جموح او بل معاذ بن عفراء[1].

[1] نووی ؒ ونیلی دی اګر چه دواړه ملګری د ابوجهل په وژلو کښ شریك وو خو معاذ بن عمرو به مخکښ زخم لګولے وو او ابوجهل به

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَتَلَ رَجُلٌ مِنْ حِمْيَرَ رَجُلًا مِنَ الْعَدُوِّ فَأَرَادَ سَلَبَهُ فَمَنَعَهُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ وَكَانَ وَالِيًا عَلَيْهِمْ فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَوْفُ بْنُ مَالِكٍ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ لِخَالِدٍ مَا مَنَعَكَ أَنْ تُعْطِيَهُ سَلَبَهُ قَالَ اسْتَكْثَرْتُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ ادْفَعْهُ إِلَيْهِ فَمَرَّ خَالِدٌ بِعَوْفٍ فَجَرَّ بِرِدَائِهِ ثُمَّ قَالَ هَلْ أَنْجَزْتُ لَكَ مَا ذَكَرْتُ لَكَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتُغْضِبَ فَقَالَ لَا تُعْطِهِ يَا خَالِدُ لَا تُعْطِهِ يَا خَالِدُ هَلْ أَنْتُمْ تَارِكُونَ لِي أُمَرَائِي إِنَّمَا مَثَلُكُمْ وَمَثَلُهُمْ كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتُرْعِيَ إِبِلًا أَوْ غَنَمًا فَرَعَاهَا ثُمَّ تَحَيَّنَ سَقْيَهَا فَأَوْرَدَهَا حَوْضًا فَشَرَعَتْ فِيهِ فَشَرِبَتْ صَفْوَهُ وَتَرَكَتْ كَدْرَهُ فَصَفْوُهُ لَكُمْ وَكَدْرُهُ عَلَيْهِمْ

د حضرت عوف بن مالك نه روايت دے د حمير (وه قبيله ده) يو سړى د دشمنانو نه يو تن اووژلو او د هغه سامان اخستل ئے غوښتلو. ليکن خالد بن وليد (چه سر لښکر وو د رسول الله ﷺ د طرفه) ورنه کړو او هغه حاکم وو. نو عوف بن مالك د رسول الله ﷺ خواله راغے. او حضرت ﷺ ته ئے هغه حال بيان کړو. حضرت خالد ته اوفرمائيل تا ده لره سامان ولے ورنه کړو؟ خالد اووے هغه سامان ډير وو يا رسول الله (نو ما هغه ټول ورکول مناسب او نه ګڼړل) حضرت اوفرمائيل ورئے کړه ده لره. بيا خالد د عوف په مخکښ تير شو او د هغوی څادر ئے راښکودو او اوئے وئيل څه چه ما بيان کړی وو حضرت ﷺ ته هغه اوشوه که نه (يعنی خالد لره ئے شرمنده کړو چه آخر تا لره سامان ورکول پريوتل) دا دے په اوريدو رسول الله ﷺ په غصه شو او اوئے فرمائيل اے خالده مه ورکوه ده لره اے خالده مه ئے ورکوه ده لره. ولے ته پريخودو والائے خما سردارانو لره. ستاسو او د دوی مثال داسے دے لکه چه چا اوښان يا بزے د څرولو دپاره واخستے بيا څرونکی د هغوی هغه څار وی د تندے په وخت حوض له راوستلو نو هغوی څښل شروع کړل او صفا صفا ئے اوڅښلے او په ويخ کښ خټے وغيره ئے پريخودے. نو صفا (يعنی ښے خبرے) خو ستاسو دپاره دی. او بدے خبرے په سردارانو باندے دی (يعنی بدنامی او مواخذه به د دی نه وی)[1].

ددغه زخم د وجے نه غورځيدلے او مړ شوے وو نو حضرت ﷺ د هغه سامان معاذ بن عمرو ته ورکړو خکه چه په حقيقت کښ قاتل هم هغه وو اګر که هغه بل هم روستو زخمی کړے وی. او د حضرت دا فرمائيل چه تاسو دواړو وژلے دے نو دائے د دواړو د زړه د خوشحالولو دپاره اوفرمائيل دا زمونږ مذهب دے او د امام مالك په نز امام لره اختيار دے چه کوم يو له غواړی د مقتول سامان ورکړی او د امام بخاری په يو روايت کښ دی چه د ابوجهل قاتلان د عفراء دواړه خامن وو او په يو روايت کښ دی چه عبد الله بن مسعود هغه وژلے وو او کيدے شی ټول په دغه قتل د ابوجهل کښ شريك وو.

[1] دا واقعه د موتا د غزا ده. چه په ۸ھ کښ شوے وه. رسول الله ﷺ زيد بن حارثه لره په درے زره لښکر سردار مقرر کړو او د شام ملك ته ئے اوليږل او ورته ئے اوفرمائيل کچرے زيد شهيد شی نو جعفر طيار به د لښکر سردار شی. او کچرے جعفر هم شهيد شی نو

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ مَنْ خَرَجَ مَعَ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ فِي غَزْوَةِ مُؤْتَةَ وَرَافَقَنِي مَدَدِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فِي الْحَدِيثِ قَالَ عَوْفٌ فَقُلْتُ يَا خَالِدُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَضَى بِالسَّلَبِ لِلْقَاتِلِ قَالَ بَلَى وَلَكِنِّي اسْتَكْثَرْتُهُ

د عوف بن مالك اشجعی نه روایت دے کوم خلق چه د زید بن حارثه سره لاړل زهٔ د هغوی سره لاړم د موتا په غزا کښې او خما مدد د یمن نه هم رااورسیدهٔ. بیانئے بیان کړو حدیث لره په داسے شان لکه چه پورته تیر شو. په دے کښې دادی چه عوف اووے. اے خالده تا ته معلومه نهٔ ده چه رسول الله ﷺ سامان قاتل له ورکړے دے. خالد اووے بیشکه مګر ما ته دا سامان ډیر معلومیږی.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَوَازِنَ فَبَيْنَا نَحْنُ نَتَضَحَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ أَحْمَرَ فَأَنَاخَهُ ثُمَّ انْتَزَعَ طَلَقًا مِنْ حَقَبِهِ فَقَيَّدَ بِهِ الْجَمَلَ ثُمَّ تَقَدَّمَ يَتَغَدَّى مَعَ الْقَوْمِ وَجَعَلَ يَنْظُرُ وَفِينَا ضَعْفَةٌ وَرِقَّةٌ فِي الظَّهْرِ وَبَعْضُنَا مُشَاةٌ إِذْ خَرَجَ يَشْتَدُّ فَأَتَى جَمَلَهُ فَأَطْلَقَ قَيْدَهُ ثُمَّ أَنَاخَهُ

د سلمه بن الاكوع نه روایت دے وائی چه مونږ په غزاد هوازن كښې د رسول الله ﷺ سره وو چه په ٨ هجری كښې شوے ده. یو ورځ مونږه د سحر ناشته کوله د رسول الله ﷺ سره چه په دے کښې یو سړے په سُور اوښ باندے سور راغے. اوښ ئے کینوؤ او یوه تسمه ئے د هغه د شانه رااوویسته او په هغے سره ئے اتړلو. ددے نه پس راغے او د خلقو سره ئے غله خوړل شروع کړل او اخوا دیخوا ئے اوکتل (هغه د کافرو د طرفه جاسوس کونکے وو) او مونږ خلق په دغه ورځو کمزوری وو او ځنے لا پکښې پیدل هم وو (چه د

عبد الله بن رواحهؓ به د لښکر سردار شی. دغه رنګے په موتا کښې چه په شام کښې یوه علاقه ده جنګ شروع شو او د حضرت ﷺ مقرر کړی سرداران پکښې شهیدان شو. آخر خالد بن الولید د مسلمانانو په انتخاب او صلاح سره سردار شو. اتهٔ تورے د دوی په جنګیدو جنګیدو کښې ماتے شوے. بیهٔ غټ جنګ اوشو او الله پاك مسلمانانو ته فتح ورکړه. حالانکه د نصارؤ لښکر په شماره یو لاکھ وو او مسلمانان درے زره وو حضرت ﷺ د عوف په طعنه سره چه خالدؓ ته کوم خفګان راغلے وو هغه ختم کړو او د هغوی خبره ئے کینبوده ددے دپاره چه مسلمانان د سردارانو اطاعت اوکړی او د سردارانو رعب باقی پاتے شی نوویؒ ونیلی دی په دے کښې دا اشکال راځی چه حضرت ﷺ د حق خاوند د حق ورکولو نه څنګه منع کړو؟ نو ددے جواب دادے چه کیدے شی حضرت ﷺ ورته روستو حق ورکړے وی لیکن په دغه وخت ئے نهٔ وی ورکړے ددے دپاره چه خالدؓ خفه نهٔ شی. دویم دا چه حضرت ﷺ ددے په بدل کښې قاتل ته نور څه ورکړی وی چه په دے سره هغه د هغهٔ سامان په پریخودو راضی شوے وی او په دے کښې مصلحت هم وو. انتهی

وَقَعَدَ عَلَيْهِ فَأَثَارَهُ فَاشْتَدَّ بِهِ الْجَمَلُ فَاتَّبَعَهُ رَجُلٌ عَلَى نَاقَةٍ وَرْقَاءَ قَالَ سَلَمَةُ وَخَرَجْتُ أَشْتَدُّ فَكُنْتُ عِنْدَ وَرِكِ النَّاقَةِ ثُمَّ تَقَدَّمْتُ حَتَّى كُنْتُ عِنْدَ وَرِكِ الْجَمَلِ ثُمَّ تَقَدَّمْتُ حَتَّى أَخَذْتُ بِخِطَامِ الْجَمَلِ فَأَنَخْتُهُ فَلَمَّا وَضَعَ رُكْبَتَهُ فِي الْأَرْضِ اخْتَرَطْتُ سَيْفِي فَضَرَبْتُ رَأْسَ الرَّجُلِ فَنَدَرَ ثُمَّ جِئْتُ بِالْجَمَلِ أَقُودُهُ عَلَيْهِ رَحْلُهُ وَسِلَاحُهُ فَاسْتَقْبَلَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مَعَهُ فَقَالَ مَنْ قَتَلَ الرَّجُلَ قَالُوا ابْنُ الْأَكْوَعِ قَالَ لَهُ سَلَبُهُ أَجْمَعُ

هغوی سره سورلئ نه وه) په دے کښې نے ناڅاپه منډے کړے او د خپل اوښ خواله راغے او هغه نے پرانسته او کیېنئوو نے او د پاسه پرے کیېناستهٔ ا واوښ نے اودروو. اوښ دے واخستو او لاړو او تختیدهٔ (اوس کافرانو لره د خبرولو دپاره روان شو) یو سړے وریسے د شاته نه لاړو په خړ رنګ اوښه باندے. سلمهٔ وائی زهٔ پیدل په منډه وریسے روان وم د هغه اوښے د کناتو سره (کومه چه د هغه سړی په تعاقب کښې روانه وه) زهٔ لږ نور ورمخکښې شوم او د هغهٔ د اوښ د کناتو خواته اورسیدم او چه لږ نور ورمخکښې شوم نو د هغه سړی د اوښ واګے مے اونیوے او هغه مے کیېنئوو څنګه چه اوښ خپل زنګون په زمکه باندے کیېنودو نو دغه شان ما توره راښکوده او په سړی باندے مے ګزار اوکړو. او بیا مے هغه اوښ نیولے او د هغهٔ د سامان او وسلے سره راغلم. رسول الله ﷺ د خلقو سره وو چا چه مخکښې تشریف راوړے وو (خما په انتظار کښې) خما سره میلاؤ شو او تپوس نے اوکړو چا اووژلو دغه سړی لره؟ خلقو اووے د اکوع خوئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل د هغهٔ ټول سامان حوئ د اکوع دے[1].

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ غَزَوْنَا فَزَارَةَ وَعَلَيْنَا أَبُو بَكْرٍ أَمَّرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا فَلَمَّا كَانَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ

د سلمه بن اکوعؓ نه روایت دے مونږ جهاد اوکړو د فزاره سره (دا په عربو کښې یوه مشهوره قبیله ده) او زمونږ سردار حضرت ابوبکر صدیقؓ وو. رسول الله ﷺ هغوی لره امیر جوړ کړے وو په

[1] ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه د عربي جاسوس قتل صحیح دے. او په دے باندے اتفاق دے او د ذمي جاسوس قتل هم د امام مالك او اوزاعي په نز صحیح دے. ځکه چه په جاسوس سره د هغهٔ وعده ماته شوه. او د جمهورو په نز وعده نه ماتیږی. او جاسوس مسلمان ته به سزا ورکولے شي د زیاتو دغه قول دے. او د مالکیؤ په نز به قتلولے شي (نووي مختصراً)

الْمَاءِ سَاعَةٌ أَمَرَنَا أَبُو بَكْرٍ فَعَرَّسْنَا ثُمَّ شَنَّ الْغَارَةَ فَوَرَدَ الْمَاءَ فَقَتَلَ مَنْ قَتَلَ عَلَيْهِ وَسَبَى وَأَنْظُرُ إِلَى عُنُقٍ مِنَ النَّاسِ فِيهِمُ الذَّرَارِيُّ فَخَشِيتُ أَنْ يَسْبِقُونِي إِلَى الْجَبَلِ فَرَمَيْتُ بِسَهْمٍ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْجَبَلِ فَلَمَّا رَأَوُا السَّهْمَ وَقَفُوا فَجِئْتُ بِهِمْ أَسُوقُهُمْ وَفِيهِمُ امْرَأَةٌ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ عَلَيْهَا قَشْعٌ مِنْ أَدَمٍ قَالَ الْقَشْعُ النِّطَعُ مَعَهَا ابْنَةٌ لَهَا مِنْ أَحْسَنِ الْعَرَبِ فَسُقْتُهُمْ حَتَّى أَتَيْتُ بِهِمْ أَبَا بَكْرٍ فَنَفَّلَنِي أَبُو بَكْرٍ ابْنَتَهَا فَقَدِمْنَا الْمَدِينَةَ وَمَا كَشَفْتُ لَهَا ثَوْبًا فَلَقِيَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّوقِ فَقَالَ يَا سَلَمَةُ هَبْ لِي الْمَرْأَةَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ وَاللهِ لَقَدْ أَعْجَبَتْنِي وَمَا كَشَفْتُ لَهَا ثَوْبًا ثُمَّ لَقِيَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغَدِ فِي السُّوقِ فَقَالَ لِي يَا سَلَمَةُ هَبْ لِي الْمَرْأَةَ لِلّٰهِ أَبُوكَ فَقُلْتُ هِيَ لَكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَوَاللهِ مَا كَشَفْتُ لَهَا ثَوْبًا فَبَعَثَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَهْلِ مَكَّةَ فَفَدَى بِهَا نَاسًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ كَانُوا أُسِرُوا بِمَكَّةَ

مونږ باندے. هر کله چه زمونږ او د اوبو په مینځ کښ د یوے گهنټے فاصله پاتے شوه (یعنی د هغۀ اوبو نه چرته چه فزاره اوسیدل مونږ ته ابوبکرؓ حکم اوکړو او مونږ په صبا شپے له کوز شو. بیائے د هر طرف نه حکم اوکړو د حملے او اوبو ته اورسیدو هلته چه څوك قتل شو هغه قتل شو او څۀ قید شو. زۀ یوے تکړے ته په لټون کښ وم چه په هغے کښ بچی او ښځے وے (د کافرانو) زۀ اویریدم چه چرته هغه ځما نه مخکښ غر ته اونۀ رسی. ما یو غشے اوویشتو د هغوی او د غر په مینځ کښ. د غشی په لیدو سره هغه اودریدۀ. ما هغوی ټولو لره په راښکودو راوستل. په هغوی کښ یوه ښځه د فزاره چه څرمن ئے اغوستے وه. د هغے سره یوه جینئ وه چه ډیره زیاته ښکلے وه ما هغه جینئ د ابوبکرؓ خواله راوسته. هغوی هغه جینئ د انعام په طور ما ته راکړه. هر کله چه مونږ مدینے ته اورسیدو او ما لا د هغے جینئ کپړه قدرے نۀ وه کهولاؤ کړے چه جناب رسول اللهﷺ ځما سره په بازار کښ میلاؤ شو او اوئے فرمائیل اے سلمه هغه جینئ ما ته راکړه. ما اووے یا رسول اللهؐ! قسم په خدائے چه هغه ځما ډیره خوښه ده. او مالاتر اوسه د هغے کپړه نه ده کهولاؤ کړے. بیا په دویمه ورځ رسول اللهﷺ ځما سره میلاؤ شو او اوئے فرمائیل اے سلمه هغه جینئ ما ته راکړه ستا پلار ډیر ښۀ سړے وو. ما اووے یا رسول اللهؐ! هغه ستا ده. قسم په خدائے چه ما خو د هغے کپړه قدرے نۀ ده کهولاؤ کړے. بیا رسول اللهﷺ هغه جینئ مکے والاؤ ته اولیږله او د هغے په بدله ئے څو مسلمانان آزاد کړل

چه په مکه کښې قید شوی وو[1]

بَاب حُكْمِ الْفَيْءِ

باب: کوم مال د کافرو چه بغیر د جنګ نه په لاس راشي د هغې بیان

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا قَرْيَةٍ أَتَيْتُمُوهَا وَأَقَمْتُمْ فِيهَا فَسَهْمُكُمْ فِيهَا وَأَيُّمَا قَرْيَةٍ عَصَتِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ خُمُسَهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُولِهِ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ

همام بن منبه وئیلي دي چه دا حدیث بیان کړے دے ما ته ابوهریره ؓ چه محمد ﷺ فرمائیلي دي. کوم کلي ته چه تاسو راغلئ او هلته پاتې شوئ نو ستاسو حصه په هغې کښې شته دے او کوم کلي والا چه د الله او د هغهٔ د رسول ؐ نافرماني اوکړه یعني جنګ ئې اوکړو. نو پنځمه حصه د هغهٔ د الله او د هغهٔ د رسول ؐ ده او باقي څلور واړه حصې ستاسو دي[2].

عَنْ عُمَرَ ؓ قَالَ كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيرِ مِمَّا أَفَاءَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ مِمَّا لَمْ يُوجِفْ عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ فَكَانَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً فَكَانَ يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَةٍ وَمَا بَقِيَ يَجْعَلُهُ

د حضرت عمر ؓ نه روایت دے د بني نضیر مال د هغه مالونو نه وو کوم چه الله تعالی خپل رسول ته ورکړو. او مسلمانانو په هغوی باندے حمله نهٔ وه کړے په اسونو او اوښانو باندے. داسے مال خاص د رسول الله ﷺ وو. حضرت به د هغې نه د خپل کور خرچ د یو کال دپاره ویستلو. او کوم چه به بچ پاتې شو هغه به ئې د اسونو او

---

[1] نووي ؒ وئیلي دي دد ے حدیث نه د فدیے جواز معلوم شو. او دا هم معلومه شوه چه د ښځے په بدله سړی آزادول جائز دي او په مور او لور کښې جدائي راوستل صحیح دي خو په دے شرط چه لور غټه (پیغله) وي. انتهی مختصراً

[2] په دے حدیث کښې بیان دے د فيء او د غنیمت یعني کوم ملك چه بغیر د جنګ نه کافران خالي کړي یا په صلح سره په قابو کښې راشي نو هغه ټول مال د بیت المال دے دے ته فيء وئیلے ش. په دے کښې د غازیانو حصه مقرر نهٔ ده. لیکن کهٔ هغوی هلته لاړ شو او حصار شي نو د عطاء په طور به حصه مومي. په دے واسطه چه په مصارفو د بیت المال کښې غازیان هم شامل دي. او کوم ملك چه په جنګ سره فتح شي په هغې کښې د بیت المال پنځمه حصه ده. او باقي څلور حصے د غازیانو دي او دے ته غنیمت وئیلے شي. (تحفة الاخیار) امام نووي وئیلي دي چه د شافعي ؒ په نیز په فيء کښې هم خمس واجب دے لکه څنګه چه په غنیمت کښې واجب دے. او باقي علماؤ اختلاف کړے دے چه په فيء کښې خُمس نشته دے. ابن منذر ؒ وئیلي دي سوا د شافعي ؒ نه د هغوی نه مخکښې څوك په فيء کښې د خمس قائل شوے نهٔ دے.

بِالْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ عُدَّةً فِي سَبِيلِ اللهِ

وسلې په اخستلو کښې صرف کولو[1]

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د زهری نه په دے اسناد سره پورتنے مضمون مروی دے.

عَنِ الزُّهْرِيِّ أَنَّ مَالِكَ بْنَ أَوْسٍ حَدَّثَهُ قَالَ أَرْسَلَ إِلَيَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَجِئْتُهُ حِينَ تَعَالَى النَّهَارُ قَالَ فَوَجَدْتُهُ فِي بَيْتِهِ جَالِسًا عَلَى سَرِيرٍ مُفْضِيًا إِلَى رُمَالِهِ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ فَقَالَ لِي يَا مَالُ إِنَّهُ قَدْ دَفَّ أَهْلُ أَبْيَاتٍ مِنْ قَوْمِكَ وَقَدْ أَمَرْتُ فِيهِمْ بِرَضْخٍ فَخُذْهُ فَاقْسِمْهُ بَيْنَهُمْ قَالَ قُلْتُ لَوْ أَمَرْتَ بِهٰذَا غَيْرِي قَالَ خُذْهُ يَا مَالُ قَالَ فَجَاءَ يَرْفَا فَقَالَ هَلْ لَكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ فِي عُثْمَانَ وَعَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ وَالزُّبَيْرِ وَسَعْدٍ فَقَالَ عُمَرُ نَعَمْ فَأَذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوا ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ هَلْ لَكَ فِي عَبَّاسٍ وَعَلِيٍّ قَالَ نَعَمْ فَأَذِنَ لَهُمَا فَقَالَ عَبَّاسٌ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اقْضِ بَيْنِي وَبَيْنَ هٰذَا الْكَاذِبِ الْآثِمِ الْغَادِرِ الْخَائِنِ فَقَالَ الْقَوْمُ أَجَلْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ فَاقْضِ بَيْنَهُمْ وَأَرِحْهُمْ فَقَالَ مَالِكُ بْنُ أَوْسٍ يُخَيَّلُ إِلَيَّ أَنَّهُمْ قَدْ كَانُوا قَدَّمُوهُمْ

د زهری نه روایت دے چه اوس بن مالك هغوی ته حدیث بیان کړے دے وائی چه ماله حضرت عمرؓ اوغوښتلو نو زهٔ د هغوی خواله د ورځې په شروع کښې راغلم. هغوی په خپل کور کښې په تخت باندے په یوه گدئ ناست وو. او څهٔ فرش په هغے باندے نهٔ وو او تکیه ئے لګولې وه د څرمنې په یوے تکیه باندے. هغوی اووے اے مالك ستاسو د قوم څهٔ کورونو والا په منډه څما خواله راغلل. ما هغوی ته څهٔ لږ شان ورکړی دی ته ئے په هغوی ټولو باندے تقسیم کړه. ما اووے کاش چه دا کار تاسو د بل چا نه اخستے وے. هغوی اووے ته ئے واخله اے مالکه! په دے کښې یرفا (د هغوی عرض کونکے او خدمتګار) راغے او اوئے وئیل اے امیر المؤمنین عثمان بن عفانؓ او عبد الرحمٰن بن عوفؓ او زبیر او سعد حاضر دی. حضرت عمرؓ اووے. ښه ده هغوی راپریږده. هغوی راغلل بیا یرفا راغے او هغهٔ اووئیل عباسؓ او علیؓ راتلل غواړی. حضرت عمرؓ اووے ښه ده هغوی له هم اجازت ورکړئ. عباسؓ اووے اے امیر المؤمنین څما او ددے دروغژن ګنهګار دهوکه باز غل فیصله اوکړئ. خلقو اووے آو اے امیر المؤمنین فیصله د دوی اوکړئ او دوی له ددے تکلیف نه راحت ورکړئ. مالك بن اوس اووے. زهٔ پوهه یم چه ددوی دواړو (یعنی حضرت علیؓ او حضرت عباسؓ) عثمان او عبد الرحمٰن او زبیر او سعد له ددے دپاره مخکښې

[1] نوویؒ وئیلی دی چه د یو کال خرچ به ئے ترے ویستلو چه د کال د پوره کیدو نه مخکښې به هغه د نیکئ په کارونو کښې صرف کیدو ددے وجے نه هر کله چه حضرتﷺ وفات شو نو د حضرتﷺ زغره د وریشو په بدل کښې ګانړه وه او درے ورځے حضرتﷺ په مړه خیټه غله نهٔ وه خوړلې

لِذٰلِكَ فَقَالَ عُمَرُ اتَّئِدَا أَنْشُدُكُمْ بِاللهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ قَالُوا نَعَمْ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى الْعَبَّاسِ وَعَلِيٍّ فَقَالَ أَنْشُدُكُمَا بِاللهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ أَتَعْلَمَانِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ قَالَا نَعَمْ فَقَالَ عُمَرُ إِنَّ اللهَ جَلَّ وَعَزَّ كَانَ خَصَّ رَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَاصَّةٍ لَمْ يُخَصِّصْ بِهَا أَحَدًا غَيْرَهُ قَالَ مَا أَفَاءَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ مَا أَدْرِي هَلْ قَرَأَ الْآيَةَ الَّتِي قَبْلَهَا أَمْ لَا قَالَ فَقَسَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَكُمْ أَمْوَالَ بَنِي النَّضِيرِ فَوَاللهِ مَا اسْتَأْثَرَ عَلَيْكُمْ وَلَا أَخَذَهَا دُونَكُمْ حَتَّى بَقِيَ هٰذَا الْمَالُ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذُ مِنْهُ نَفَقَةَ سَنَةٍ ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ أُسْوَةَ الْمَالِ ثُمَّ قَالَ أَنْشُدُكُمْ بِاللهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ أَتَعْلَمُونَ ذٰلِكَ قَالُوا نَعَمْ ثُمَّ نَشَدَ عَبَّاسًا وَعَلِيًّا بِمِثْلِ مَا نَشَدَ بِهِ

لیږلی وو (چه هغه حضرت عمرؓ ته اووائی او فیصله پرے اوکړی حضرت عمرؓ اووے اودریږئ زۀ تاسو له قسم درکوم په هغه الله چه د هغۀ په حکم سره زمکه او آسمان قائم دی څکه تا ته معلومه نۀ ده چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زمونږ د پیغمبرانوؑ په مالونو کښ وارثانو ته څۀ نۀ میلاویږی او څۀ چه مونږه پریږدو هغه صدقه ده. ټولو اووے آو مونږ ته معلومه ده. بیائے د حضرت عباسؓ او حضرت علیؓ په طرف توجه اوکړه او اوئے فرمائیل زۀ تاسو دواړو له په هغه الله قسم درکوم چه د هغۀ په حکم سره زمکه آسمان قائم دی. آیا تاسو ته معلومه ده چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. زمونږ د پیغمبرانو څوك وارث نۀ شی کیدے څۀ چه مونږ پریږدو هغه صدقه ده. هغوی دواړو اووے بیشکه مونږ ته معلومه ده. حضرت عمرؓ اووے الله تعالی د رسول الله ﷺ سره یوه خبره خاص کړے وه چه هغه ئے د بل هیچا سره نۀ ده خاص کړے. اوئے فرمائیل الله تعالی چه څۀ ورکړل خپل رسولؐ ته د کلی والاؤ د مال نه هغه د الله او د هغۀ د رسول دے. (ما ته دا معلومه نۀ ده چه دد ے نه هغه رومبے ایت هم هغوی اولوسته یا نه) بیا حضرت عمرؓ اووے. پس رسول الله ﷺ په تاسو باندے د بنی نضیر مال اوویشلو او قسم په خدائے چه حضرت ﷺ مال لره ستاسو نه زیات نۀ دے ګڼړلے. او نۀ ئے دا کړی دی چه پخپله ئے اخستے وی او تاسو ته ئے نۀ وی درکړے. تردے پورے چه دا مال پاتے شو دد ے نه به رسول الله ﷺ خپل خرچ د یو کال دپاره اوویستو او کوم چه به باقی پاتے شو هغه به ئے په بیت المال کښ شریك کړو. بیا حضرت عمرؓ اووے زۀ تاسو له په هغه الله قسم درکوم چه د هغۀ په حکم سره زمکه آسامن قائم دی تاسو دا

الْقَوْمُ أَتَعْلَمَانِ ذٰلِكَ قَالَا نَعَمْ قَالَ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ أَنَا وَلِيُّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُمَا تَطْلُبُ مِيرَاثَكَ مِنَ ابْنِ أَخِيكَ وَيَطْلُبُ هٰذَا مِيرَاثَ امْرَأَتِهِ مِنْ أَبِيهَا فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ فَرَأَيْتُمَاهُ كَاذِبًا آثِمًا غَادِرًا خَائِنًا وَاللهُ يَعْلَمُ إِنَّهُ لَصَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ ثُمَّ تُوُفِّيَ أَبُوْ بَكْرٍ وَأَنَا وَلِيُّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوَلِيُّ أَبِي بَكْرٍ فَرَأَيْتُمَانِي كَاذِبًا آثِمًا غَادِرًا خَائِنًا وَاللهُ يَعْلَمُ إِنِّي لَصَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ فَوَلِيتُهَا ثُمَّ جِئْتَنِي أَنْتَ وَهٰذَا وَأَنْتُمَا جَمِيعٌ وَأَمْرُكُمَا وَاحِدٌ فَقُلْتُمَا ادْفَعْهَا إِلَيْنَا فَقُلْتُ إِنْ شِئْتُمْ دَفَعْتُهَا إِلَيْكُمَا عَلَى أَنَّ عَلَيْكُمَا عَهْدَ اللهِ أَنْ تَعْمَلَا فِيهَا بِالَّذِي كَانَ يَعْمَلُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذْتُمَاهَا بِذٰلِكَ قَالَ أَكَذٰلِكَ قَالَا نَعَمْ قَالَ ثُمَّ جِئْتُمَانِي لِأَقْضِيَ بَيْنَكُمَا وَلَا وَاللهِ لَا أَقْضِي بَيْنَكُمَا بِغَيْرِ ذٰلِكَ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ فَإِنْ عَجَزْتُمَا عَنْهَا فَرُدَّاهَا إِلَيَّ

تول ګنړئ یا نه هغوی اووے آو ګنړو. بیائے قسم ورکړو عباس رضی او علی رضی ته دغه شان هغوی هم دغسے اووے. بیا حضرت عمر رضی اووے. هر کله چه رسول الله ﷺ وفات شو نو حضرت ابوبکر رضی اووے زهٔ ولی یم د جناب رسول الله ﷺ. نو تاسو دواړو د خپلے ترکے د غوښتلو دپاره راغلئ. عباس رضی خو د خپل ورارهٔ ترکه غوښتله (یعنی رسول الله ﷺ د عباس رضی د رور خوئ وو) او حضرت علی کرم الله وجهه د خپلے بی بی حصه د هغے دپلار د مال نه غوښتله (یعنی د حضرت فاطمه الزهراء رضی چه د حضرت علی رضی بی بی وه او د حضرت ﷺ لور وه) ابوبکر رضی دا جواب ورکړو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. زمونږ د مال څوك وارث نهٔ شی کیدے څهٔ چه زمونږ نه پاتے شی هغه صدقه ده. تاسو هغوی لره دروغژن ګنهګار او دهوکه باز ګنړئ. او الله تعالی ته معلومه ده چه هغوی رښتونے نیك او په هدایت باندے وو. بیا چه حضرت ابوبکر رضی وفات شو او زهٔ ولی شوم د رسول الله ﷺ او د ابوبکر رضی نو تاسو مالره هم دروغژن ګنهګار او دهوکه باز او خیانت ګر اوګنړو. او الله تعالی پوهه دے چه زهٔ رښتونے نیك او په هدایت باندے د حق تابع یم زهٔ د هغه مال هم ولی پاتے شوم. بیا تاسو دواړه څما خواله راغلئ. او تاسو دواړه یو یئ او ستاسو حکم هم یو دے (یعنی اګر کهٔ تاسو په ظاهر سره دوه تنه یئ مګر د نزدیکت په لحاظ رسول الله ﷺ ته په مثل د یو سړی یئ) تاسو دا اووے چه دا مال مونږ ته اوسپارهٔ. ما اووے ښه ده کچرے تاسو غواړئ نو زهٔ ئے تاسو له درکوم په دے شرط باندے چه تاسو به په دے مال کښ هغه کار کوئ کوم چه به رسول الله ﷺ کولو تاسو په دے شرط باندے دا مال څما نه واخستو. بیا حضرت عمر رضی اووے آیا دغسے ده؟ هغوی

اووے آو. حضرت عمرؓ اووے بيا تاسو دواړه ماله راغلی يئ د فيصلے كولو دپاره. او په الله مے د قسم وی چه زۀ سوا دد ے نه د بلے يوے فيصلے كولو والانۀ يم د قيامته پورے. البته كچرے ستاسو نه دد ے مال بندوبست نۀ شی كيدے نو بيا ئے ماته واپس راكړئ[1].

---

[1] دا خلور الفاظ يعنی دروغژن گنهگار دهوكه باز او خيانت گر حضرت علیؓ ته اووے. او دد ے تاويل دا كوی چه دا د شرط په طور دی او شرط محذوف دے يعنی كچرے حضرت علیؓ انصاف او نۀ كړی او په حق باند ے راضی نۀ شی نو هغه به دغسے وی يائے په طور د مينے اووے. لكه پلار چه خوئ ته اووائی ولے چه عباسؓ ئے تره وو او د پلار په مثل ئے وو. امام مازریؒ وئيلی دی چه د حضرت علیؓ شان ډير لوئے دے او په دے خلورو خاميانو كښ په هغوی كښ يوه خامی نۀ وه. بلكه هغه ربښتونے راست باز نيك چلن او امانت دار وو اگر چه مونږ دا نۀ وايو چه هغوی معصوم وو بلكه معصوم صرف رسول اللهﷺ وو يا چه چا ته هغوی معصوم وئيلی دی. او مونږ ته حكم دے د صحابؓو په باره كښ د نيك گمان كولو او د هرے بدے خبرے نه هغوی لره د پاك گنړلو. او كچرے تاويل او نۀ كړے شی. نو دا به وايو چه راويانو دروغ وئيلی دی. او دا تاويل هم كيدے شی. چه يو امر د يو په نز خطا وی او د بل په نز خطا نۀ وی. لكه مالكی مذهب والا چه نبيذ څكلو والا ته ناقص الدين وائی. خو حنفی هغوی لره كامل الدين گنړی. دغه شان دا هم كيدےشی چه حضرت عباسؓ د حضرت علیؓ كار روايي لره غلطه گنړی. ليكن حضرت علیؓ هغے لره صحيح گنړی انتهٰی مختصراً

هر كله چه حضرت عباسؓ او حضرت علیؓ ته دا حديث معلوم وو. نو بيا هغوی ولے جهگړه كوله. علماؤ دد ے جواب دا وركړے دے چه د دوی دواړو جهگړه د تقسيم دپاره وه. هغوی دا غوښتله چه جائيداد په دواړو باند ے او ويشلے شی. او هر يو پخپله حصه كښ هغه اوكړی لكه څنگه چه به رسول اللهﷺ كولو. خو حضرت عمرؓ دغه تقسيم ناجائز گنړلو. دد ے وجے نه چه هر كله ډيره زمانه تيره شی او خلق دے لره ميراث او نۀ گنړی. خاص كر په داسے حالت كښ چه د لور حصه د تره سره نيم په نيمه وی نو خلق به خيال او كړی چه دا تقسيم په طور د تركے تقسيم وو. او هر كله چه حضرت علیؓ خليفه شو نو هغوی هم دے لره تقسيم نۀ كړو بلكه د صدقے په طور ئے قائم اوساتلو او سفاح هغه سری ته چا چه د حضرت ابوبكرؓ او عمرؓ او عثمانؓ ظلم د فدك په باب كښ بيان كړے وو دغه جواب وركړے دے چه ولے حضرت علی كرم الله وجهه هم په تاباند ے ظلم كړے دے. نو هغه چپ شو او سفاح وره ته سخت او سست اووے.

دلته هم هغه تاويل دے كوم چه پورته د حضرت عباسؓ د قول تير شو. كوم چه هغوی د حضرت علیؓ دپاره وئيلے وو زۀ به هغه انتظام كوم چه رسول اللهﷺ كړے وو. اوس دے ته كتل پكار دی چه شيعه گان چه كوم په ابوبكر صديقؓ او حضرت عمرؓ باند ے طعن لگوی چه هغوی په باغ فدك وغيره كښ د حضرت فاطمه حق ورنۀ كړو. او هغه ئے ځان له اوساتۀ. دا طعن څومره نامعقول دے څكه چه حضرت ابوبكرؓ چه كوم حديث د حضرتﷺ نه اوريدلے وو د هغے خلاف ئے څنگه عمل كولے شو. البته كچرے حضرت ابوبكرؓ دغه مال پخپله خورلے وے يائے پخپل تصرف كښ راوستے وے. او د حضرتﷺ په كورنئ ئے نۀ صرف كولے نو هم به د طعن موقع وه. او دومره عقل دغه بے وقوفو لره نۀ راځی چه حضرت ابوبكر صديق د مكے او د مدينے او د يمن او د طائف او د خيبر او د نجد او د شام حاكم پاتے شوے وو چه د لكونو كروړونو روپو د حاصلولو مالك وو او د چا بادشاهی چه دومره فراخه وی او هغه په هغے كښ د رتئ برابر بے ايمانی نۀ كوی او د يو تولو مسلمانانو برابر حصه وركوی هغه به د كهجوروُ د يو څو اونو دپاره څنگه بے ايمانی اوكړی علاوه دد ے نه حضرت عمر فاروقؓ پخپل خلافت كښ هغه ټول مال حضرت علیؓ او حضرت عباسؓ ته اوسپارلو. دد ے نه هم معلوميږی چه د حضرت

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَرَدْنَ أَنْ يَبْعَثْنَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَيَسْأَلْنَهُ مِيرَاثَهُنَّ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ قَالَتْ عَائِشَةُ لَهُنَّ أَلَيْسَ قَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا فَهُوَ صَدَقَةٌ

د ام المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے . هر کله چه رسول الله ﷺ وفات شو نو د هغوی بیبیانو حضرت عثمانؓ لیږلو د حضرت ابوبکر صدیقؓ پسے چه د بیبیانو د میراث تپوس وکړی د نبی کریم ﷺ په مال کښ. حضرت عائشے هغوی ته اووے جناب رسول الله ﷺ نۀ دی فرمائیلی .زمونږ څوك وارث نۀ شی کیدے څۀ چه زمونږ نه پاتے شی هغه صدقه ده.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسَلَتْ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا أَفَاءَ اللهُ عَلَيْهِ بِالْمَدِينَةِ وَفَدَكٍ وَمَا بَقِيَ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ إِنَّمَا يَأْكُلُ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْمَالِ وَإِنِّي وَاللهِ لَا أُغَيِّرُ شَيْئًا مِنْ صَدَقَةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ حَالِهَا الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهَا فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَأَعْمَلَنَّ فِيهَا بِمَا عَمِلَ

د ام المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه حضرت فاطمة زهراءؓ د رسول الله ﷺ لور بی بی د حضرت ابوبکر صدیقؓ په خدمت کښ چالره اولیږو د خپلے ترکے د غوښتلو دپاره د رسول الله ﷺ نه د هغه مالونو نه کوم چه الله تعالی حضرت ﷺ ته ورکړی وو په مدینه کښ او په فدك کښ او څۀ چه د خیبر د خُمس نه بچ پاتے شوی وو. حضرت ابوبکرؓ اووے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی . زمونږ څوك وارث نۀوی او څۀ چه زمونږ نه پاتے شی هغه صدقه ده. او د حضرت محمد ﷺ اولاد به د دغه مال نه خوراك کوی. او څماخو د په الله قسم وی چه د محمد ﷺ صدقه به څۀ شے هم بدله نۀ کړم د هغه حال نه لکه څنګه چه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښ وه او زۀ به په دے کښ هغه کار کوم کوم چه رسول الله ﷺ کولو. غرض دا چه حضرت ابوبکرؓ انکار اوکړو حضرت فاطمے ته د څۀ ورکولو نه. او حضرت فاطمهؓ غصه شوه. هغوی د ابوبکرؓ سره ملاقات پریخودو او خبرے به ئے ورسره نۀ کولے تردے پورے چه وفات شوه (نوویؒ وائی دا

ابوبکر صدیقؓ او حضرت عمرؓ نیت د هغوی د مال د غصب کولو نه وو ځکه چه حضرت ابوبکر صدیقؓ په هر امر کښ د حضرت عمرؓ په رائے باندے چلیدۀ

بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَبَى أَبُو بَكْرٍ أَنْ يَدْفَعَ إِلَى فَاطِمَةَ شَيْئًا فَوَجَدَتْ فَاطِمَةُ عَلَى أَبِي بَكْرٍ فِي ذٰلِكَ قَالَ فَهَجَرَتْهُ فَلَمْ تُكَلِّمْهُ حَتَّى تُوُفِّيَتْ وَعَاشَتْ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ أَشْهُرٍ فَلَمَّا تُوُفِّيَتْ دَفَنَهَا زَوْجُهَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ لَيْلًا وَلَمْ يُؤْذِنْ بِهَا أَبَا بَكْرٍ وَصَلَّى عَلَيْهَا عَلِيٌّ وَكَانَ لِعَلِيٍّ مِنَ النَّاسِ وِجْهَةٌ حَيَاةَ فَاطِمَةَ فَلَمَّا تُوُفِّيَتْ اسْتَنْكَرَ عَلِيٌّ وُجُوهَ النَّاسِ فَالْتَمَسَ مُصَالَحَةَ أَبِي بَكْرٍ وَمُبَايَعَتَهُ وَلَمْ يَكُنْ بَايَعَ تِلْكَ الْأَشْهُرَ فَأَرْسَلَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ أَنِ ائْتِنَا وَلَا يَأْتِنَا مَعَكَ أَحَدٌ كَرَاهِيَةَ مَحْضَرِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقَالَ عُمَرُ لِأَبِي بَكْرٍ وَاللهِ لَا تَدْخُلْ عَلَيْهِمْ وَحْدَكَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَمَا عَسَاهُمْ أَنْ يَفْعَلُوا بِي إِنِّي وَاللهِ لَآتِيَنَّهُمْ فَدَخَلَ عَلَيْهِمْ أَبُو بَكْرٍ فَتَشَهَّدَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ ثُمَّ قَالَ إِنَّا قَدْ عَرَفْنَا يَا أَبَا بَكْرٍ فَضِيلَتَكَ وَمَا أَعْطَاكَ اللهُ وَلَمْ نَنْفَسْ عَلَيْكَ خَيْرًا سَاقَهُ اللهُ إِلَيْكَ وَلٰكِنَّكَ اسْتَبْدَدْتَ عَلَيْنَا بِالْأَمْرِ وَكُنَّا نَحْنُ نَرَى لَنَا حَقًّا لِقَرَابَتِنَا مِنْ رَسُولِ

ترکِ ملاقات هغه پریخودل نۀ دی چه هغه په شرع کښې حرام دے او هغه داد ے چه د ملاقات په وخت سلام او نۀ کړی یا د سلام جواب ورنۀ کړی او هغه د رسول الله ﷺ نه روستو صرف شپږ میاشتے ژوندئ وه. ځنو وئیلی دی اتۀ میاشتے یا درے میاشتے یا دوه میاشتے یا اویا ورځے (بهر حال په دریم تاریخ د رمضان المبارک د ۱۱ھ مقدس کال هغوی انتقال اوفرمائیلو) هر کله چه د هغوی انتقال اوشو نو د هغوی خاوند حضرت علی بن ابی طالب هغوی لره د شپے دفن کړه. او حضرت ابوبکرؓ ئے خبر نۀ کړو (ددے نه معلومه شوه چه د شپے دفن کول هم جائز دی او د ورځے غوره دی کچرے څۀ عذر نۀ وی) او په هغوی باندے مونځ حضرت علیؓ اوکړو. او د کومے پورے چه حضرت فاطمة الزهراءؓ ژوندئ وه د هغے پورے خلق د حضرت علی کرم الله وجهه په طرف مائل وو (په وجه د فاطمه الزهراء) هر کله خه نه هغے انتقال اوشو نو حضرت علی کرم الله وجهه اولیدل چه خلق ځماد طرفنه واپس شو. هغوی د ابوبکرؓ سره صلح کول اوغوښتل او د هغوی نه ئے بیعت کول مناسب اوګڼړل. او تر اوسه پورے څو میاشتے تیرے شوے وے چه هغوی بیعت نۀ وو کړے د حضرت ابوبکرؓ نه. نو حضرت علیؓ حضرت ابوبکرؓ ته قاصد اولیږو. او ورته ئے اووے چه تاسو یواځے راشئ او د ځان سره څوك مۀ راولئ. ځکه چه هغه د حضرت عمرؓ راتلل نه غوږه کولو. حضرت عمرؓ حضرت ابوبکرؓ ته اووے قسم په الله چه ته به یواځے د هغوی خواله نۀ ورځے. حضرت ابوبکرؓ اووے هغوی به ځما سره څۀ کوی. قسم په الله زۀ خو یواځے ځم. آخر حضرت ابوبکرؓ د هغوی خواله لاړو. او حضرت علیؓ تشهد اولوستو (لکه څنګه چه د

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَزَلْ يُكَلِّمُ أَبَا بَكْرٍ حَتَّى فَاضَتْ عَيْنَا أَبِي بَكْرٍ فَلَمَّا تَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَرَابَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ أَصِلَ مِنْ قَرَابَتِي وَأَمَّا الَّذِي شَجَرَ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ مِنْ هَذِهِ الْأَمْوَالِ فَإِنِّي لَمْ آلُ فِيهَا عَنِ الْحَقِّ وَلَمْ أَتْرُكْ أَمْرًا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُهُ فِيهَا إِلَّا صَنَعْتُهُ فَقَالَ عَلِيٌّ لِأَبِي بَكْرٍ مَوْعِدُكَ الْعَشِيَّةَ لِلْبَيْعَةِ فَلَمَّا صَلَّى أَبُو بَكْرٍ صَلَاةَ الظُّهْرِ رَقِيَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَتَشَهَّدَ وَذَكَرَ شَأْنَ عَلِيٍّ وَتَخَلُّفَهُ عَنِ الْبَيْعَةِ وَعُذْرَهُ بِالَّذِي اعْتَذَرَ إِلَيْهِ ثُمَّ اسْتَغْفَرَ وَتَشَهَّدَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ فَعَظَّمَ حَقَّ أَبِي بَكْرٍ وَأَنَّهُ لَمْ يَحْمِلْهُ عَلَى الَّذِي صَنَعَ نَفَاسَةً عَلَى أَبِي بَكْرٍ وَلَا إِنْكَارًا لِلَّذِي فَضَّلَهُ اللهُ بِهِ وَلَكِنَّا كُنَّا نَرَى لَنَا فِي الْأَمْرِ نَصِيبًا فَاسْتُبِدَّ عَلَيْنَا بِهِ فَوَجَدْنَا فِي أَنْفُسِنَا فَسُرَّ بِذَلِكَ الْمُسْلِمُونَ وَقَالُوا أَصَبْتَ فَكَانَ الْمُسْلِمُونَ إِلَى عَلِيٍّ قَرِيبًا حِينَ رَاجَعَ الْأَمْرَ الْمَعْرُوفَ

خطبے په شروع کښې لوستلے شي، بیائے اووے اے ابوبکره! ما ستا فضیلت او پیژندو او څۀ چه الله تاله درکړی دی او مونږ حسد نۀ کوو په هغه نعمت باندے کوم چه الله تالره درکړے دے (یعنی خلافت او حکومت)، لیکن تا یواخې یواخې دا کار اوکړو. او مونږ پوهه وو چه زمونږ هم حق دے په دے کښې ولے چه مونږ هم د رسول الله ﷺ سره نږدیکت لرلو. بیائے برابر د ابوبکر صدیق سره خبرے کولے. تردے پورے چه د حضرت ابوبکر صدیق سترګے ډکے شوے. هر کله چه ابوبکر خبرے شروع کړے نو دا ئے اووئیل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه ځما روح دے د رسول الله ﷺ د خپلولئ لحاظ ما ته د ځان نه زیات دے. او دا ځما او ستا په مینځ کښې د هغه خبرو په بابت (یعنی فدك او نضیر او خمس خیبر وغیره) چه اختلاف راغلے نو ما حق نۀ دے پریخودے. او ما هغه څۀ کا رنۀ دے پریخودے چه د هغے په کولو ما رسول الله ﷺ لیدلے دے بلکه ما هغے لره کړے دے. حضرت علی حضرت ابوبکر صدیق ته اووے. ننه ده نن د ماسپخین نه پس به مونږ ستاسو نه بیعت کوو. هر کله چه ابوبکر د ماسپخین د مانځۀ نه فارغ شو نو منبر ته اوختو او تشهد ئے اولوستو او د حضرت علی قصه ئے بیان کړه. او د هغوی په بیعت کښې د روستو کیدو او کوم عذر چه هغوی بیان کړے وو هغه ئے هم اووے او بیائے دُعا د مغفرت اوکړه. او حضرت علی هم تشهد اولوستو. او د حضرت ابوبکر صدیق فضیلت ئے بیان کړو. او دائے اووے چه ځما روسته کول په بیعت کښې د دے وجے نۀ وو چه ځما ګنے په ابوبکر باندے بے سودی وه یاد هغۀ د بزرګئ او غوره والی نه ما ته انکار وو بلکه مونږه دا ګڼړله چه په

دے خلافت كښې زمونږه هم حصه ده او حضرت ابوبكرؓ يواځے بغير د صلاح نه دا كار اوكړو. د دے وجے نه زمونږ زړۀ خفه شوے وو. د دے په اوريدو مسلمانان خوشحاله شو او ټولو حضرت علیؓ ته اووے تا صحيح كار اوكړو. د دغه ورځے نه پس مسلمانان بيا د حضرت علیؓ په طرف باندے كاږۀ شو. هر كله چه هغوی واجبی امر لره اختيار كړو[1].

[1] نووي وائي. حضرت علیؓ چه په بيعت كښې كومه حصارتيا اوكړه د هغے وجه پخپله حضرت علیؓ بيان كړه په د دے روايت كښې. او حضرت ابوبكرؓ د هغوی عذر قبول كړو باوجود د دے چه حضرت علیؓ په بيعت كښې حصارتيا اوكړه د ابوبكرؓ په بيعت څۀ خلل نۀ كيږي. ځكه چه د بيعت د صحت دپاره د ټولو خلقو بيعت كول ضروري نۀ دي. بلكه څۀ شان چه خلق د علماؤ او مشرانو او معتبر خلقو نه بيعت كوي په اسانۍ سره دغه كافي ده په دے شرط چه نور معتبر خلق ئے خلاف نۀ كوي. او حضرت علی كرم الله وجهه د حضرت ابوبكرؓ خلاف نۀ وو كړے مگر د عذر د وجے نه صرف هغوی حصار والے اوكړو او هغه عذر دا وو چه باوجود د هغوی د جلالت قدر او عظمت شان ئے هغوی لره په مشوره كښې شريك نۀ كړو. د دے وجے نه هغوی پريشانه شو او د ابوبكرؓ او عمرؓ جلتی كول د خلافت دپاره. د دے وجے نۀ وو چه هغه زيات ضروري شوے وو او په حصاريدو كښې دا يره وه چه چرته بله څۀ فتنه پورته نۀ شي. او په د دے واسطه د رسول اللهﷺ په دفن باندے ئے هم د دے لره مقدم كړو. (انتهی مختصراً)

د حضرت عمر راتلل هغوی ته په د دے وجه غوره نۀ وو چه د حضرت عمر فاروقؓ په مزاج مبارك كښې سختی او صفائی وه. هغه يريدۀ چه چرته د حضرت ابوبكرؓ د مدد دپاره څۀ سخته خبره اوكړي او د بنی هاشم زړونو لره كومو ته چه د رسول اللهﷺ په وفات سره پريشانی وه نوره زياته پريشانی شي. او مصلحت فوت شي. ولے چه حضرت علیؓ هغوی لره د ابوبكرؓ سره په بيعت كولو باندے راضي كړي وو او حضرت عمر حضرت ابوبكر صديقؓ لره د يواځے تلو نه منع كړو په د دے خيال سره چه هغوی نرم زړۀ والا دي او صابره دي نو بنی هاشم هغوی ته په يواځے موندو سره څۀ سخت الفاظ او نۀ وائي. او كيدے شي د دے وجے نه د ابوبكرؓ زړۀ واپس شي. او بل فساد راپورته شي او د حضرت عمرؓ په مخكښې په دواړو طرف والاؤ باندے رعب وو او حضرت ابوبكر صديقؓ د حضرت عمر قسم لره مات كړو ځكه چه د قسم پوره كول هله ضروري دي چه د دے نه څۀ فساد پيدا نۀ شي.

حضرت ابوبكرؓ ډير زيات د نرم زړۀ خاوند او بُردبار وو هغوی له به په لږه غوندے خبره ژړا ورتله هر كله حضرت علیؓ د خپل قرابت او رشته دارۍ او خپل فضيلت كوم چه رسول اللهﷺ فرمائيلے وو بيان اوفرمائيلو نو د هغوی سترگے ډكے شوے د اوښكو نه او دغه وخت حضرت علی هم د حضرت ابوبكر نه په خوښۍ بيعت اوكړو. د صحابه كرامو هم دغه حال وو الله تعالی د هغوی په شان كښې فرمائيلی دی اَشِدَّاۗءُ عَلَي الْكُفَّارِ رُحَمَاۗءُ بَيْنَهُمْ سخت دي په كافرانو باندے او نرم دي په خپلو كښې. پاتے شوه دا خبره چه د حضرت ابوبكر نه حضرت فاطمة زهراء ناراضه شوله نو د حضرت ابوبكرؓ په دے كښې څۀ قصور نۀ وو. بلكه هغوی د حضرتﷺ حديث واورو. او د مال خرچ ئے په هغه شان قائم اوساتو په كومه طريقه چه به رسول اللهﷺ خرچ كولو. حضرت ابوبكرؓ دا نۀ وو كړی چه هغوی هغه مال پخپله واخستو يائے پخپل تصرف كښې راوستۀ او د حضرتﷺ بيبيانو او رشته دارانو ته ئے نۀ وركوۀ. كچرے د ابوبكرؓ داسے نيت وے نو خپلے روپۍ او مال به ئے په حضرتﷺ باندے د هغوی په ژوند كښې ولے قربانوو. او صحابو به د هغوی خلافت ولے منظوره وو

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ فَاطِمَةَ وَالْعَبَّاسَ أَتَيَا أَبَا بَكْرٍ يَلْتَمِسَانِ مِيرَاثَهُمَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمَا حِينَئِذٍ يَطْلُبَانِ أَرْضَهُ مِنْ فَدَكٍ وَسَهْمَهُ مِنْ خَيْبَرَ فَقَالَ لَهُمَا أَبُو بَكْرٍ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ مَعْنَى حَدِيثِ عُقَيْلٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ ثُمَّ قَامَ عَلِيٌّ فَعَظَّمَ مِنْ حَقِّ أَبِي بَكْرٍ وَذَكَرَ فَضِيلَتَهُ وَسَابِقَتَهُ ثُمَّ مَضَى إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَبَايَعَهُ فَأَقْبَلَ النَّاسُ إِلَى عَلِيٍّ فَقَالُوا أَصَبْتَ وَأَحْسَنْتَ فَكَانَ النَّاسُ قَرِيبًا إِلَى عَلِيٍّ حِينَ قَارَبَ الْأَمْرَ الْمَعْرُوفَ

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے چه فاطمة الزهراء او حضرت عباس دواړه د حضرت ابوبکر صديق خواله راغلل چه خپله حصه ئې غوښتله د رسول الله ﷺ د مال نه او هغوی په دغه وخت کښې طلب کوله د فدك زمکه او د خيبر حصه. ابوبکر صديق اووے چه ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه بيائې بيان کړو حديث لره په هغه شان لکه چه پورته تير شو په دے کښې دا دی چه حضرت علی اودريدو او د حضرت ابوبکر عظمت ئې بيان کړو او د هغوی د فضيلت او په اسلام کښې د مخکښې کيدو ذکرئې اوکړو. بيا ابوبکر صديق ته خواله لاړو او د هغوی نه ئې بيعت اوکړو دغه وخت خلق د حضرت علی په طرف متوجه شو او اوئې وئيل تا ټهيك اوکړل او ښه د اوکړل. او د دغه وخت نه خلق د هغهٔ طرفدار شو هر کله چه هغوی واجبی خبره اومنله

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَتْ أَبَا بَكْرٍ بَعْدَ وَفَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقْسِمَ لَهَا مِيرَاثَهَا مِمَّا تَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا أَفَاءَ اللهُ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهَا أَبُو بَكْرٍ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ قَالَ وَعَاشَتْ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ أَشْهُرٍ

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے چه حضرت فاطمه د رسول الله ﷺ لور د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د ابوبکر نه خپله حصه اوغوښته. د رسول الله ﷺ د ترکې نه چه الله تعالی هغوی ته ورکړے وه. حضرت ابوبکر فاطمې ته اووے رسول الله ﷺ خو دا فرمائيلی دی. زمونږ څوك وارث نهٔ شی کيدے او څهٔ چه مونږ پريږدو هغه صدقه ده. او حضرت فاطمه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس صرف د شپږو مياشتو پورے ژوندئ وه. او هغې خپله حصه غوښتله د خيبر او فدك او مدينې د صدقو نه. حضرت ابوبکرصديق ور نهٔ کړه او دائې اووے زهٔ هيڅ يو کار چه هغې لره

سره دد ے حضرت ابوبکر د حضرت علی په بلنه باند ے يواځې د هغوی خواله لاړو. حضرت عمر فاروق منع هم کړو ليکن هغوی اونهٔ منل کچرے واقعی د دغه حضراتو په زړونو کښې عداوت يا دشمنی وے. نو دغه شان به د يو بل سره نهٔ ميلاويدل دا قول د رافضيانو طوفان دے چه د صحابه کرامو په شان کښې داسې بے ادبه الفاظ رااوباسی او د هغې بدله ډيره نزدے ده.

وَكَانَتْ فَاطِمَةُ تَسْأَلُ أَبَا بَكْرٍ نَصِيبَهَا مِمَّا تَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَيْبَرَ وَفَدَكٍ وَصَدَقَتِهِ بِالْمَدِينَةِ فَأَبَى أَبُو بَكْرٍ عَلَيْهَا ذٰلِكَ وَقَالَ لَسْتُ تَارِكًا شَيْئًا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْمَلُ بِهِ إِلَّا عَمِلْتُ بِهِ إِنِّي أَخْشَى إِنْ تَرَكْتُ شَيْئًا مِنْ أَمْرِهِ أَنْ أَزِيغَ فَأَمَّا صَدَقَتُهُ بِالْمَدِينَةِ فَدَفَعَهَا عُمَرُ إِلَى عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ فَغَلَبَهُ عَلَيْهَا عَلِيٌّ وَأَمَّا خَيْبَرُ وَفَدَكُ فَأَمْسَكَهُمَا عُمَرُ وَقَالَ هُمَا صَدَقَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتَا لِحُقُوقِهِ الَّتِي تَعْرُوهُ وَنَوَائِبِهِ وَأَمْرُهُمَا إِلَى مَنْ وَلِيَ الْأَمْرَ قَالَ فَهُمَا عَلَى ذٰلِكَ إِلَى الْيَوْمِ

رسول الله ﷺ كولو پريخودونكے نه يم زۀ يريږم چه چرته گمراه نۀ شم بيا د مدينے صدقه حضرت عمرؓ پخپله زمانه كښې حضرت عليؓ او حضرت عباسؓ ته وركړه. ليكن حضرت عليؓ په حضرت عباسؓ باندے غلبه اوكړه (يعني په خپله قبضه كښې ئے اوساتله) او خيبر او فدك لره حضرت عمرؓ پخپله قبضه كښې اوساتلو. او دائے اووے چه دواړه صدقے وے د رسول الله ﷺ چه صرف كيدے به د حضرتؐ په حقوقو او كارونو كښې كوم چه به پيښيدو حضرتؐ ته او دا دواړه به د هغه چا په اختيار كښې وی څوك چه د مسلمانانو حاكم وی. بيا ترنن ورځے پورے دغه شان پاتے شو (يعني خيبر او فدك هميشه د وخت خليفه په قبضه كښې راغلل. حضرت عليؓ هم هغے لره په خپل دورِ خلافت كښې تقسيم نۀ كړو. پس د شيعه گانو اعتراض په ابوبكرؓ او حضرت عمر فاروقؓ باندے بے ځايه شو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَقْتَسِمُ وَرَثَتِي دِينَارًا مَا تَرَكْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمَئُونَةِ عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ

د حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. څما وارث يو دينار هم نۀ شی ويشلے څۀ چه څما د ښځو د خرچ او د منتظم د أجرت نه پس بچ پاتے شی نو هغه صدقه ده [1].

---

[1] نوویؒ وئيلی دی چه د جمهورو د علماؤ دا قول دے چه د ټولو انبياؤ عليهم السلام دغه حكم دے چه څوك د هغوی وارث نۀ شی كيدے او د حسن بصریؒ نه دا منقول دی چه دا زمونږ د پيغمبر ﷺ سره مخصوص دی. ځكه چه حضرت زكريا عليه السلام دُعا اوغوښتله چه (يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ) او مراد ددے نه د مال وراثت دے. ورنه د مخكښې ايت وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَرَائِي صحيح كيدے نۀ شی. ځكه چه د موالی خوف وراثت په نبوت او علم باندے نۀ شی كيدے. او الله تعالى فرمائيلی دی وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ او صواب د جمهورو مذهب دے او د دواړو ايتونو نه مراد د نبوت وراثت دے او د منتظم نه مراد هغه بنده دے څوك چه د هغۀ مالونو بندوبست كوی يا خليفه وخت دے كچرے هغه پخپله انتظام كوی. قاضی عياض وئيلی دی د رسول الله ﷺ مال دا وو چه يو خو اوۀ باغونه د بنی نضير چه د يهودی د وصيت د وجے د حضرت ﷺ په ملك كښې راغلی وو هر كله چه هغه د جنگ أحد په ورځ مسلمان شو دويمه هغه زمكه كومه چه انصارو حضرت ﷺ له وركړے وه. دريم د بنی نضير مال هر كله چه هغه د مدينے نه اوويستلے شول او بغير د جنگ جدل نه هغه په لاس راغے. څلورم نيمه حصه د فدك چه د خيبر د فتح نه پس د صلح په وخت مقرر شوے وو. پنځم

عَنْ أَبِي الزِّنَادِ بِهٰذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د ابوالزناد نه په دے اسناد سره د پورتنی روایت پشان دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ

د ابوهریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زمونږ هیڅوك وارث نشته څۀ چه زمونږ نه پاتے شی هغه صدقه ده.

بَاب كَيْفِيَّةِ قِسْمَةِ الْغَنِيمَةِ بَيْنَ الْحَاضِرِينَ

باب : په حاضرین کښې د غنیمت مال څنګه به تقسیمیږی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسَمَ فِي النَّفَلِ لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ وَلِلرَّجُلِ سَهْمًا

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د غنیمت د مال نه دوه حصے اسونو سوَروته ورکولے. او پیاده سړی ته به ئے یوه حصه ورکوله[1].

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهٰذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي النَّفَلِ

د عبیدالله نه په دے اسناد سره د پورتنی روایت پشان دے مګر په دے کښې د غنیمت ذکر نشته

بَاب الإِمْدَادِ بِالْمَلاَئِكَةِ فِي غَزْوَةِ بَدْرٍ وَإِبَاحَةِ الْغَنَائِمِ

باب : د بدر په جنګ کښې د فرښتو مدد. او د لوټ مباح کیدل. (یعنی د مالِ غنیمت)

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ نَظَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمُشْرِكِينَ وَهُمْ أَلْفٌ وَأَصْحَابُهُ ثَلاَثُ مِائَةٍ وَتِسْعَةَ عَشَرَ رَجُلاً فَاسْتَقْبَلَ نَبِيُّ اللهِ

د حضرت عمر نه روایت دے په کومه ورځ چه د بدر جنګ اوشو نو جناب رسول الله ﷺ مشرکان اولیدل چه زر نفره وو او د حضرت صحابه درے سوه او نولس وو. جناب رسول الله ﷺ مشرکانو لره اولیدل او د قبلے په طرف ئے مخ کړو بیائے دواړه لاسونه خوارۀ کړله ا

دریمه حصه د وادی القُرٰی. شپږمه دوه قلعه ګانے د خیبر وطیخ او سلام چه په صلحه سره واخستے شو. اووم د خیبر د خُمس نه حصه دا تول د حضرت ﷺ املاك وو د بل چا حق په دے کښې نۀ وو. حضرت ﷺ به دغه مالونه لګول پخپله او اهل وعیال باندے او د مسلمانانو په ضرورتونو کښې او همیشه دا د صدقاتو په طور باندے پاتے کول پکار دی. بل چا لره په هغے کښې ملك كول حرام دی.

[1] . نو د تسورلې د بنیادم درے حصے شوے او د پیدل بنیادم یوه حصه شوه. او دغه قول دے د ابن عباس او مجاهد او محمد حسن او ابن سیرین او عمر بن عبد العزیز او مالك او اوزاعی او ثوری او لیث او شافعی او ابویوسف او احمد او اسحٰق او ابوعبید او ابن جریر او د جمهورو علماؤ رحمهم الله. او ابو حنیفه وئیلی دی چه د سور دوه حصے دی او د پیدل یوه حصه ده. او کچرے څوك د خپل خان سره څو اسونه راولی نو د یو اس حصه به مومی. د جمهورو دغه قول دے. او د اوزاعی او ثوری او لیث او ابو یوسف په نز به ورته د دوو اسونو حصه میلاویږی. (نووی ملخصًا)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقِبْلَةَ ثُمَّ مَدَّ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَهْتِفُ بِرَبِّهِ اَللّٰهُمَّ أَنْجِزْ لِي مَا وَعَدْتَنِي اَللّٰهُمَّ اٰتِ مَا وَعَدْتَنِي اَللّٰهُمَّ إِنْ تُهْلِكْ هٰذِهِ الْعِصَابَةَ مِنْ أَهْلِ الْإِسْلَامِ لَا تُعْبَدْ فِي الْأَرْضِ فَمَا زَالَ يَهْتِفُ بِرَبِّهِ مَادًّا يَدَيْهِ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ حَتّٰى سَقَطَ رِدَاؤُهُ عَنْ مَنْكِبَيْهِ فَأَتَاهُ أَبُو بَكْرٍ فَأَخَذَ رِدَاءَهُ فَأَلْقَاهُ عَلٰى مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ الْتَزَمَهُ مِنْ وَرَائِهِ وَقَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ كَفَاكَ مُنَاشَدَتُكَ رَبَّكَ فَإِنَّهُ سَيُنْجِزُ لَكَ مَا وَعَدَكَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ فَأَمَدَّهُ اللّٰهُ بِالْمَلَائِكَةِ قَالَ أَبُو زُمَيْلٍ فَحَدَّثَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَئِذٍ يَشْتَدُّ فِي أَثَرِ رَجُلٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ أَمَامَهُ إِذْ سَمِعَ ضَرْبَةً بِالسَّوْطِ فَوْقَهُ وَصَوْتَ الْفَارِسِ يَقُولُ أَقْدِمْ حَيْزُومُ فَنَظَرَ إِلَى الْمُشْرِكِ أَمَامَهُ فَخَرَّ مُسْتَلْقِيًا فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ قَدْ خُطِمَ أَنْفُهُ وَشُقَّ وَجْهُهُ كَضَرْبَةِ السَّوْطِ فَاخْضَرَّ ذٰلِكَ أَجْمَعُ فَجَاءَ الْأَنْصَارِيُّ فَحَدَّثَ بِذٰلِكَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ صَدَقْتَ ذٰلِكَ مِنْ مَدَدِ السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَقَتَلُوا يَوْمَئِذٍ سَبْعِينَ

وپه زوره ئے د خپل پروردګار نه دُعا کول شروع کړل (د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه په دُعا کښې قبلے ته مخ کول او خپل لاس خوروول مستحب دی) یا الله پوره کړے کومه چه تا خما سره وعده کړے ده. یا الله راکړے ماله هغه څه چه تا خما سره وعده کړے ده. یا الله کچرے ته هلاك کړے د مسلمانانو دے جماعت لره نو ستا عبادت کونکی به په زمکه پاتے نه شی. (بلکه د بتانو عبادت به کولے شی) بیا حضرت ﷺ برابر دُعا کوله او خپل لاسونه مبارك ئے خوارهٔ کړی وو تردے پورے چه څادر مبارك ئے د اوږو نه اغورځیدو. حضرت ابوبکرؓ راغے او څادر مبارك ئے ورته په اوږو واچوؤ. بیا د روستو نه پیوسته شو (رسول الله ﷺ سره) او اوئے فرمائیل اے د الله رسولهؐ بس ستاسو دومره دُعا کافی ده. اوس به الله تعالی پوره کوی وعده خپله کومه چه ئے کړے ده ستاسو سره. پس الله تعالی دا ایت نازل کړو. إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ د آخره پورے. یعنی هر کله چه تاسو د الله تعالی نه دُعا غوښتله او هغه قبوله کړه دُعا ستاسو او اوئے فرمائیل زهٔ به ستاسو مدد کوم په زرو فرښتو سره پرله پسے. بیا الله تعالی مدد اوکړو د هغوی په فرښتو سره ابوزمیل وئیلی دی. ما ته حدیث بیان کړے دے ابن عباسؓ چه په دغه ورځ یو مسلمان په یو کافر پسے شاته منډه وهله او کافر ددهٔ نه مخکښې وو چه په دے کښې د پاسه نه د کوړے آواز ددغه مسلمان په غوږونو کښې راغے او د پاسه نه اووئیلے شو مخکښې شه اے حیزدم (حیزدم د هغه فرښتے د اس نوم وو) بیا چه مسلمان اولیدل نو هغه کافر په زمکه نیغ پریوتو ددهٔ په مخکښې مسلمان چه کله اوکتو نو د هغهٔ په پوزه باندے نخښه وه او

وَأَسَرُوا سَبْعِينَ قَالَ أَبُو زُمَيْلٍ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَلَمَّا أَسَرُوا الْأُسَارَى قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ مَا تَرَوْنَ فِي هَؤُلَاءِ الْأُسَارَى فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا نَبِيَّ اللهِ هُمْ بَنُو الْعَمِّ وَالْعَشِيرَةِ أَرَى أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُمْ فِدْيَةً فَتَكُونُ لَنَا قُوَّةً عَلَى الْكُفَّارِ فَعَسَى اللهُ أَنْ يَهْدِيَهُمْ لِلْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَرَى يَا ابْنَ الْخَطَّابِ قُلْتُ لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَرَى الَّذِي رَأَى أَبُو بَكْرٍ وَلَكِنِّي أَرَى أَنْ تُمَكِّنَّا فَنَضْرِبَ أَعْنَاقَهُمْ فَتُمَكِّنَ عَلِيًّا مِنْ عَقِيلٍ فَيَضْرِبَ عُنُقَهُ وَتُمَكِّنِّي مِنْ فُلَانٍ نَسِيبًا لِعُمَرَ فَأَضْرِبَ عُنُقَهُ فَإِنَّ هَؤُلَاءِ أَئِمَّةُ الْكُفْرِ وَصَنَادِيدُهَا فَهَوِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قَالَ أَبُو بَكْرٍ وَلَمْ يَهْوَ مَا قُلْتُ فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ جِئْتُ فَإِذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ قَاعِدَيْنِ يَبْكِيَانِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَخْبِرْنِي مِنْ أَيِّ شَيْءٍ تَبْكِي أَنْتَ وَصَاحِبُكَ فَإِنْ وَجَدْتُ بُكَاءً بَكَيْتُ وَإِنْ لَمْ أَجِدْ بُكَاءً تَبَاكَيْتُ لِبُكَائِكُمَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْكِي لِلَّذِي عَرَضَ عَلَيَّ أَصْحَابُكَ مِنْ أَخْذِهِمُ الْفِدَاءَ لَقَدْ عُرِضَ عَلَيَّ عَذَابُهُمْ

خلهٔ ئے ماته شوے وه. لکه څنګه چه ئے څوك په کوړه باندے اووهي. او هغه ټول شين شوے وو (د کوړے د زهرو نه) بيا مسلمان انصاري د رسول الله ﷺ خواله راغے او قصه ئے بيان کړه. حضرت ﷺ اوفرمائيل ته رښتيا وائے دا مدد د دريم آسمان نه راغلے وو. آخر مسلمانانو په دغه ورځ اويا کافران او وژل او اويائے قيد کړل ابوزميل وائي چه ابن عباس وئيلي دي هر کله چه ئے قيديان ګرفتار کړي راوستل نو رسول الله ﷺ ابوبکر او عمر ته اووے. چه ستاسو څهٔ رائے ده ددے قيديانو په باره کښ. ابوبکر اووے چه اے د الله رسوله دا زمونږ تربوران (ترهٔ ځامن) دي. او خاندان والا دي زهٔ دا غوارم چه تاسو د دوی نه څهٔ مال واخلئ او دوی پريږدئ چه په دے سره به په مسلمانانو کښ طاقت راشي د کافرانو سره د مقابلے کولو او کيدے شي چه دغه خلق الله پاك په اسلام مشرف کړي. رسول الله ﷺ اوفرمائيل ستا رائے څهٔ ده اے د خطاب ځويه! هغوی اووے نه قسم په الله دے يا رسول الله! ځما د ابوبکر په شان رائے نهٔ ده. ځما رائے داده چه تاسو دوی لره مونږ ته حواله کړئ چه مونږ د دوی څټونه اووهو. او تاسو عقيل لره حضرت علي ته حواله کړئ چه هغوی د هغهٔ څټ اووهي. او ما ته ځما فلاني عزيز حواله کړئ چه زهٔ د هغوی څټ اووهم. ځکه چه دا د کفر سرداران دي. رسول الله ﷺ ته د ابوبکر رائے غوره شوه او ځما رائے ورته غوره نهٔ شوه. هر کله چه دويمه ورځ شوه نو زهٔ د رسول الله ﷺ خواله راغلمه. حضرت ﷺ او ابوبکر دواړه ناست وو ژړل ئے. ما اووے يا رسول الله! تاسو او ستاسو دا ملګرے ولے ژاړئ؟ کچرے ما ته هم ژړا راشي نو اوژاړم او کهٔ د ژړا صورت جوړ کړمه ستاسو د دواړو د ژړا د وجے نه. رسول

أَدْنَى مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ شَجَرَةٍ قَرِيبَةٍ مِنْ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ إِلٰى قَوْلِهِ فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا فَأَحَلَّ اللهُ الْغَنِيمَةَ لَهُمْ

الله ﷺ اوفرمائیل زهٔ ژاړم په دے واقعه سره کومه چه مخکښې راغله ستا ملګرو ته د فدیے اخستلو نه خما مخے ته د هغوی عذاب راوستے شو دد ے اونے نه نږدے (دا یوه اونه وه د رسول الله ﷺ په خوا کښې) بیا الله تعالی دا آیت نازل کړو. مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرٰى د آخره پورے. یعنی نبی لره دا صحیح نهٔ دی چه هغه قیدی اوساتی د هغے پورے چه زور ختم نهٔ شی د کافرانو په زمکه کښې[1].

[1] د بدر جنګ د هر څهٔ نه ړومبے جنګ دے چه مسلمانانو کړے دے. او بدر د یو اوبو نوم دے. او یو کلے دے څلور منزله لرے د مدینے نه. ابن قتیبه وئیلی دی چه بدر یو کوهے وو د یو کس او د هغے د مالك نوم بدر وو چه بیا د هغه کوهی نوم شو. ابویقظان وئیلی دی چه دا د بنی غفار د یو سړی نوم وو. او د بدر جنګ په اولسم تاریخ د ۲ھ په مقدس کال د جمعے په ورځ د رمضان المبارك په میاشت کښې شوے وو. او حافظ ابن القاسم د خپل استاذ نه تاریخ په دمشق کښې روایت کړے دے چه دا جنګ د ګل په ورځ شوے وو لیکن په دغه اسناد کښې څو تنه ضعیف دی. حافظ وئیلی دی چه محفوظ دغه دے چه دا جنګ د جمعے په ورځ شوے دے. او په صحیح بخاری کښې د عبدالله بن مسعود ؓ نه روایت دے چه د بدر ورځ د ګرمۍ د ورځو نه وه. (نووی)

په حدیث سره رد راغے د وحدت الوجود چه هغه دا ګڼړی چه غرونه او بوټی هر څهٔ الله دی (معاذ الله) د هغوی په نزد د بت عبادت کول هم د الله تعالی عبادت دے. الله تعالی وعده کړے وه د حضرت ﷺ سره د یو څیز د دو څیزونو نه د قافلے یا د لښکر. قافله خو لاړه لیکن د لښکر سره مقابله راغله. د حضرت ﷺ هر وخت دا پوخ یقین وو چه د الله وعده به پوره کیږی. لیکن هغوی د مسلمانانو د تسلۍ او تشفۍ دپاره په دویم خل دُعا اوکړه.

هر څنګه د الله جل جلاله یو حکم یا یوه فرښته د ټول وکافرانو د تباهۍ دپاره پوره وه. خو الله ته دا منظوره شوه چه مسلمانان چا ته چه د خپل کموالی رنځ وو خوشحاله شی په خپل تعداد زیاتیدو سره. ولے چه اوس مسلمانان یو زر درے سوه او نولس شو. یا الله ته دا منظوره شوه چه فرښتے د بنیادمو په شان اوجګنیږی په داسے طاقت سره لکه چه په انسان کښې وی.

ابن هشام په خپل سیرت کښې په اسناد صحیح د ابن عباس ؓ نه روایت کړے دے چه یو سړی د بنی غفار نه هغوی ته اووے. زهٔ او خما د ترهٔ یو خوئ دواړه مشرکان وو. د بدر په ورځ یو غر ته اوختو. په دے انتظار کښې چه اووینو چه څوك به شکست اوخوری نو مونږ به د لوټ والاؤ سره شریك شو. مونږ په غر کښې ناست وو چه د وریځے یوه ټکړه زمونږ خواله راغله چه پکښې د اسونو آواز هم وو. ما واوریدل چه یو وینا کونکی دا اووے حیزوم مخکښې شه. دد ے حال په لیدو سره خما د رور زړهٔ په درزیدو شو او هغه ځائے مړ شو. زهٔ هم مرګ ته نږدے شوے ومه خو خپل ځان مے قابو کړو. ابن اسحق وئیلی دی حدیث بیان کړے دے ما ته عبد الله بن ابی بکر چه هغوی اوریدلی د بعضے بنی ساعدۀ نه. هغوی د ابو أُسید مالك بن ربیعه نه چه د بدر په جنګ کښې شریك وو. د هغوی د سترګو نظر تلے وو. هغوی به وئیل کچرے زهٔ په بدر کښې وے او خما نظر وے نو ما به تاته هغه کنډؤ خودلے وو په کوم چه فرښتے راوتلے وے. ما ته په دے کښې هیڅ شك نشته دے. ابن اسحق وائی ما ته حدیث بیان کړےدے ابواسحاق بن یسار هغوی د بنی مازن بن نجار د څو سړونه اوریدلے دے. هغوی د ابوداؤد مازنی نه اوریدلے دے چه هغوی د بدر په جنګ کښې موجود وو. هغوی وائی چه زهٔ د بدر په جنګ کښې په یو مشرك پسے د وژلو دپاره روان وم مګر خما د رسیدو نه مخکښې د هغهٔ سر اوغورځیدو نو زهٔ پوهه شوم چه دے بل چا

بَاب رَبْطِ الْأَسِيرِ وَحَبْسِهِ وَجَوَازِ الْمَنِّ عَلَيْهِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْلًا قِبَلَ نَجْدٍ فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ يُقَالُ لَهُ ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ سَيِّدُ أَهْلِ الْيَمَامَةِ فَرَبَطُوهُ بِسَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ فَخَرَجَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَاذَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِي يَا مُحَمَّدُ خَيْرٌ إِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ فَتَرَكَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى كَانَ بَعْدَ الْغَدِ فَقَالَ مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ قَالَ مَا قُلْتُ لَكَ إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ

باب : قیدی لره تړل او بندول او هغهٔ لره هسے پریخودل جائز دی

د حضرت ابوهریرهٔ نه روایت دے رسول الله ﷺ څهٔ سوارهٔ کسان د نجد په طرف اولیږل هغوی یو سړے نیولے راوستهٔ چه د بني حنیفه قبیلے نه وو. او د هغهٔ نوم ثمامه بن اثال وو او هغه د یمامه والاؤ سردار وو. بیا خلقو د جماعت د یوے ستنے سره اوتړو. رسول الله ﷺ د هغهٔ خواله لاړو او اوئے فرمائیل: اے ثمامه ستا سره څهٔ دی؟ هغهٔ اووے خما سره دیر څهٔ دی. کچرے تاسو ما لره اووژنئ نو داسے سړے به اووژنئ چه هغه وینے والا دے او کچرے تاسو احسان اوکړئ نو په داسے سړی به احسان اوکړئ چه هغه به شکر گذاره وی. او کچرے تاسو مال غواړئ نو غواړئ څومره چه ستاسو خوښه وی. نو رسول الله ﷺ هغهٔ لره هلته پاتے کړو. بیا په دریمه ورځ حضرت ﷺ تشریف راوړو. او تپوس ئے اوکړو څهٔ دی ستا سره اے ثمامه. هغهٔ اووے هم هغه څهٔ

اووژلو. ابن اسحٰق وائی ما ته حدیث بیان کړے شوے دے په داسے سړی باندے چه په هغوی باندے زۀ تهمت نهٔ وایم (یعنی هغه ثقه وو) هغوی اوریدلی دی د مقسم نه هغوی د عبد الله بن عباس نه. هغوی وائی چه د فرښتو په سر باندے د بدر په ورځ سپین پټکی وو چه زورند شوی وو د ملا پورے او د حنین په ورځ ئے سرۀ پټکی وو. ابن هشام وئیلی دی ما ته ځنے د علم خاوندانو بیان کړے دے چه حضرت علی وئیلی دی پټکی د عربو تاجونه دی او د بدر په ورځ باندے هم د فرښتو په سر باندے سپین پټکی و د شا پورے زورند کړے شوی. مگر د حضرت جبرائیل علیه السلام په سر باندے زیړ پټکے وو. انتهٰی

د دے حدیث نه د حضرت عمر غټ فضیلت معلوم شو او دا هم معلومه شوه چه بعضے موقعه د کمے درجے والا رائے د لوئے درجے والا رائے نه غوره وی. او دا هم معلومه شوه چه د حضرت ﷺ هر رائے په وحی سره نهٔ وه. مگر حضرت ﷺ ته به د خپل رائے غلطی په وحی سره معلومیده. بل چا ته دا رتبه نشته دے. او دا هم معلومه شوه چه حضرت ﷺ نبی برحق وو. ورنه د خپل رائے غلطی به ئے ولے ظاهر فرمائیله او دا هم معلومه شوه چه فرښتے د بنیادمو شکل جوړولے شی او حضرت جبرائیل علیه السلام به کله کله د دحیة الکلبی په شکل کښں راتلو فقط

كُنتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ
فَتَرَكَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حَتَّى كَانَ مِنَ الْغَدِ فَقَالَ مَاذَا عِنْدَكَ يَا
ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِي مَا قُلْتُ لَكَ إِنْ تُنْعِمْ
تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ
كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
أَطْلِقُوا ثُمَامَةَ فَانْطَلَقَ إِلَى نَخْلٍ قَرِيبٍ مِنَ
الْمَسْجِدِ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ
فَقَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ
مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ يَا مُحَمَّدُ وَاللهِ مَا كَانَ عَلَى
الْأَرْضِ وَجْهٌ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ وَجْهِكَ فَقَدْ
أَصْبَحَ وَجْهُكَ أَحَبَّ الْوُجُوهِ كُلِّهَا إِلَيَّ وَاللهِ
مَا كَانَ مِنْ دِينٍ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ دِينِكَ
فَأَصْبَحَ دِينُكَ أَحَبَّ الدِّينِ كُلِّهِ إِلَيَّ وَاللهِ مَا
كَانَ مِنْ بَلَدٍ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ بَلَدِكَ فَأَصْبَحَ
بَلَدُكَ أَحَبَّ الْبِلَادِ كُلِّهَا إِلَيَّ وَإِنَّ خَيْلَكَ
أَخَذَتْنِي وَأَنَا أُرِيدُ الْعُمْرَةَ فَمَاذَا تَرَى
فَبَشَّرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَأَمَرَهُ أَنْ يَعْتَمِرَ فَلَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ قَالَ لَهُ
قَائِلٌ أَصَبَوْتَ فَقَالَ لَا وَلَكِنِّي أَسْلَمْتُ
مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا
وَاللهِ لَا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ حَبَّةُ حِنْطَةٍ

چه ما تاسو ته وئيلی دی. کچرے تاسو احسان اوکړئ نو په احسان منونکی به ئے اوکړئ. کچرے وژنئ نو ښه عزت والا به اووژنئ. كهٔ روپئ غواړئ نو څومره چه غواړئ ميلاؤ به شی. بيا حضرت ﷺ د مخکښ پشان هغهٔ لره هلته پريخودهٔ. په صباله بيا حضرت ﷺ تشريف راوړو او تپوس ئے اوکړو ستا سره څهٔ دی اے ثمامه؟ ثمامه اووے هم هغه کوم چه ما تا ته وئيلی دی . کهٔ احسان کوے نو اوکړه شکر گزار به يم کهٔ مے وژنے نو مړ مے کړه ليکن خما وينه د ضايع کيدو نهٔ ده. کهٔ مال غواړے نو څومره چه غواړے درکوم. رسول الله ﷺ اوفرمائيل ښه ده پريږدئ ثمامه لره. هغه جماعت ته نزدے د يوے کهجورے د اونے په طرف لاړهٔ او غسل ئے اوکړو بيا جماعت ته راغے او اوئے وئيل چه أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. اے محمد (ﷺ) په الله قسم دے چه ستا نه زيات د چا مخ خما دپاره بد نهٔ وو او اوس ستاسو د مخ نه زيات ما ته د چا مخ محبوب نهٔ دے. قسم دے په الله چه ستا ددين نه زيات بل يو دين خما په نز بد نهٔ وو او ستا دين اوس د ټولو دينونو نه زيات ما ته محبوب دے. په الله قسم دے چه ستاسو د ښار نه زيات يو ښار ما ته بد نهٔ معلوميدهٔ . اوس ستاسو ښار ما ته د ټولو ښارونو نه زيات غوره دے. ستا سوَرو زهٔ اونيوم زهٔ عمرے له تلمه اوس څهٔ اوکړم تاسو راته اوفرمايئ. رسول الله ﷺ هغهٔ لره خوشحاله کړو امر ئے ورته وکړو چه عمره وکړه. هر کله چه مکے ته اورسيدهٔ نو خلقو

حَتَّى يَأْذَنَ فِيهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ورته اووے تا دین بدل کړو. هغهٔ اووے نه بلکه زهٔ مسلمان شوم د رسول الله ﷺ سره قسم دے په الله چه د یمامه نه به یوه دا نه د غنمو تاسو ته رااونهٔ رسی د کومے پورے چه رسول الله ﷺ اجازت نهٔ وی ورکړے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ يَقُولُ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْلًا لَهُ نَحْوَ أَرْضِ نَجْدٍ فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ يُقَالُ لَهُ ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ الْحَنَفِيُّ سَيِّدُ أَهْلِ الْيَمَامَةِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ اللَّيْثِ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ إِنْ تَقْتُلْنِي تَقْتُلْ ذَا دَمٍ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د نجد په طرف یو لښکر لیږل اوفرمائیل. هغوی و سرے اونیوؤ. د هغهٔ نوم ثمامه بن اثال وو او د یمامه والاؤ سردار وو. مخکښې حدیث د پورتنی حدیث پشان دے مګر په دے کښې دادی کچرے تاسو ما اووژنئ نو د وژلو مستحق به اووژنئ.

[1] نوويؒ وئیلی دی چه دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه قیدی لره تړل او د هغهٔ بندول صحیح دی. او خماعت ته د کافر راتلل صحیح دی. او د شافعیؒ مذهب دے چه د مسلمان په اجازت سره د کافر جماعت ته راتلل صحیح دی. خواه کهٔ هغه کتابی وی یا مشرك. او د عمر بن عبد العزیزؒ او قتادهؒ او مالكؒ په نز روا نهٔ دی. او د ابوحنیفهؒ په نز د کتابی پریخودل روا دی او د مشرك روا نهٔ دی. او زمونږه دلیل د تولو په مقابله کښې دا حدیث دے. او دا چه الله تعالی فرمائیلی دی مشرکان پلیت دی هغه به مسجد حرام ته نهٔ داخلیږی. دا خاص دی د حرم سره او حرم ته د کافر تلل صحیح نهٔ دی. انتهی.

یعنی د هغهٔ بدله به نور خلق اخلی. غرض دا چه زهٔ څهٔ غریب سړے نهٔ یم چه خما د روح به څوك پرواه او نهٔ کړی. بلکه رئیس یم کچرے تاسو ما وژنئ نو خما بدله به نور خلق اخلی. او څنو وئیلی دی چه دد ے معنی داده چه کهٔ تاسو ما اوژنئ نو هغه څوك به اووژنئ چه د هغهٔ وژل پکار نهٔ دی. یعنی تاسو ته دد ے استحقاق حاصل دے. او په څنو روایتونو کښې ذاذم. یعنی خاوند د حرمت او عزت به اووژنئ. مګر دا روایت ضعیف دے.

نووی وئیلی دی چه زمونږ د ملګرو دا قول دے چه هر کله کافر مسلمانیدل غواړی نو فوراً د مسلمانیږی او د غسل دپاره د نهٔ ناوخته کوی. او هیچا لره دا روا نهٔ دی چه هغهٔ لره د غسل پورے د حصاریدو اجازت ورکړی. بلکه مخکښې د مسلمان شی بیا د غسل اوکړی او غسل واجب دے اګر کهٔ د کفر په حالت کښې هغه جنب شوے وی او غسل نے هم کړے وی. او د څنو په نز کچرے د کفر په حالت کښې نے غسل کړے وو نو غسل واجب نهٔ دے. او د مالکیؤ په نز په یو حال غسل واجب نهٔ دے او په اسلام راوړلو سره د جنابت حکم ساقط کیږی لکه څنګه چه ګناه ساقط کیږی. او په دے باندے اعتراض دا دے چه اودس واجب دے بالاجماع او د بے اودسئ اثر په اسلام سره نهٔ ساقط کیږی. او اګر کهٔ هغه د کفر په حالت کښې هډو جنب شوے نهٔ وی خو غسل مستحب دے او د امام احمد په نز واجب دے او حضرت ﷺ د درے ورځو پورې ثمامه لره حصار کړو. دد ے دپاره چه دده په زړهٔ کښې د اسلام محبت پیدا شی. او ښهٔ غور پرے اوکړی او د عمرے حکم نے د هغهٔ دپاره استحباباً ورکړو نهٔ وجوباً. انتهی مختصراً

بَاب إِجْلَاءِ الْيَهُودِ مِنَ الْحِجَازِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ بَيْنَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ إِذْ خَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْطَلِقُوا إِلَى يَهُودَ فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتَّى جِئْنَاهُمْ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَادَاهُمْ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ يَهُودَ أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا فَقَالُوا قَدْ بَلَّغْتَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ أُرِيدُ أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا فَقَالُوا قَدْ بَلَّغْتَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ أُرِيدُ فَقَالَ لَهُمُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ اعْلَمُوا أَنَّمَا الْأَرْضُ لِلّٰهِ وَرَسُولِهِ وَأَنِّي أُرِيدُ أَنْ أُجْلِيَكُمْ مِنْ هٰذِهِ الْأَرْضِ فَمَنْ وَجَدَ مِنْكُمْ بِمَالِهِ شَيْئًا فَلْيَبِعْهُ وَإِلَّا فَاعْلَمُوا أَنَّ الْأَرْضَ لِلّٰهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ يَهُودَ بَنِي النَّضِيرِ وَقُرَيْظَةَ حَارَبُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجْلَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَنِي النَّضِيرِ وَأَقَرَّ قُرَيْظَةَ وَمَنَّ عَلَيْهِمْ حَتّٰى حَارَبَتْ قُرَيْظَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ فَقَتَلَ رِجَالَهُمْ وَقَسَمَ نِسَاءَهُمْ وَأَوْلَادَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بَيْنَ

باب : د یهودو د حجاز د ملك نه ویستل

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه مونږ په جماعت کښې ناست وو چه په دے کښې رسول اللهﷺ بهر تشریف راوړو او اوئے فرمائیل : د یهودیانو خواله ورځو. مونږ د هغوی سره لاړو ترد ے پورے چه د یهودیانو خواته اورسیدو. رسول اللهﷺ اودریدو او په اوچت آواز ئے اوفرمائیل اے د یهودو خلقو! مسلمانان شئ. هغوی اووے تاسو پیغام راورسوؤ (د الله تعالیٰ) اے ابوالقاسمﷺ. رسول اللهﷺ اوفرمائیل زهٔ دا غواړم بیا رسول اللهﷺ اوفرمائیل اے یهودو مسلمانان شئ. هغوی اووے تارا اورسوؤ اے ابوالقاسم. رسول اللهﷺ اوفرمائیل زهٔ دغه غواړمه (چه تاسو اقرار اوکړئ د الله د پیغام رارسولو) بیا حضرتﷺ په دریم ځل دغه شان اووے. او اوئے فرمائیل پوهه شئ چه زمکه د الله او د هغهٔ د رسول ده.او زهٔ غواړم چه تاسو لره دد ے ملك نه بهر اوباسم. پس څوك چه خپل مال خرڅول غواړی نو هغه د ئے خرڅ کړی. او کهٔ نهٔوی نو په د ے پوهه شئ چه زمکه د الله او د هغهٔ د رسول ده.

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه د بنی نضیر او قریظه یهودیانو د رسول اللهﷺ سره جنګ اوکړو. حضرتﷺ د بنی نضیر یهودیانو لره اوویستل . او د قریظه یهود ئے هلته پریخودل بلکه په هغوی ئے احسان اوکړو. بیا بنی قریظو دد ے نه پس جنګ اوکړو (او د حضرتﷺ سره ئے دهوکه اوکړه په جنګ اضراب کښې د مشرکانو سره ملګری شو)

الْمُسْلِمِينَ إِلاَّ أَنَّ بَعْضَهُمْ لَحِقُوا بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَآمَنَهُمْ وَأَسْلَمُوا وَأَجْلَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهُودَ الْمَدِينَةِ كُلَّهُمْ بَنِي قَيْنُقَاعَ وَهُمْ قَوْمُ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلاَمٍ وَيَهُودَ بَنِي حَارِثَةَ وَكُلَّ يَهُودِيٍّ كَانَ بِالْمَدِينَةِ

بيا حضرتﷺ د هغوی سری اووژل او د هغوی ښځے او بچی او مالونه ئے په مسلمانانو تقسيم کړي مګر څوک چه د رسول اللهﷺ سره يو ځائے شوی وو. حضرتﷺ هغوی له امن ورکړو. هغه مسلمانان شو. او اوويستل رسول اللهﷺ ټول يهوديانو لره د مدينے نه. خاص کر بنی قينقاع چه د عبد الله بن سلام قوم وو د مدينے نه. او بنی حارثه لره او هر يو يهودی لره چه په مدينه کښ وو.

عَنْ مُوسَى بِهَذَا الإِسْنَادِ هَذَا الْحَدِيثَ وَحَدِيثُ ابْنِ جُرَيْجٍ أَكْثَرُ وَأَتَمُّ

د موسیٰ نه په دے اسناد سره روايت دے او دا حديث او د ابن جريج حديث زيات او مکمل دی.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ حَتَّى لاَ أَدَعَ إِلاَّ مُسْلِمًا

د حضرت عمر نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی البته زۀ به اوباسم يهودو او نصاراؤ لره د عربو د جزيرے نه تر دے پورے چه نۀ به اوسيږی په دے کښ مګر مسلمانان[1].

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ

ابوالزبير نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے.

بَاب جَوَازِ قِتَالِ مَنْ نَقَضَ الْعَهْدَ وَجَوَازِ إِنْزَالِ أَهْلِ الْحِصْنِ عَلَى حُكْمِ حَاكِمٍ عَدْلٍ أَهْلٍ لِلْحُكْمِ

باب: څوک چه وعده ماته کړی د هغۀ وژل صحيح دی او د قلعه والاؤ لره د چا عادل سړی په فيصله راکوزول صحيح دی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ نَزَلَ أَهْلُ قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى سَعْدٍ فَأَتَاهُ عَلَى حِمَارٍ فَلَمَّا دَنَا قَرِيبًا مِنَ

د حضرت ابوسعيد خدری نه روايت دے وائی چه د قريظه يهودی د سعد بن معاذ په فيصله باندے راکوز شو. نو رسول اللهﷺ په سعد پسے قاصد اوليږۀ. هغۀ په يو خر باندے سور شو او راغے. هر کله چه مسجد ته نږدے رااورسيدۀ نو رسول اللهﷺ انصارو ته

[1] جزيره هغه ځائے ته وئيلے شی چه د هغے نه څلور طرفته اوبۀ وی. او د عربو نه درے طرفته سمندر دے څکه يوه ښکلے جزيره ده. نووی وئيلی دی چه ذمی کافر چه کله وعده ما ته کړی نو هغه حربی کيږی. او امام لره اختيار دے چه د هغوی نه چا لره غواړی قيد کړی. او چالره چه غواړی مفت ئے پريږدی. او د پريخودو نه پس کچرے هغه جنګ کوو نو وعده به ئے ماتيږی. انتهی

الْمَسْجِدِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْأَنصَارِ قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ أَوْ خَيْرِكُمْ ثُمَّ قَالَ إِنَّ هَؤُلَاءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ قَالَ تَقْتُلُ مُقَاتِلَتَهُمْ وَتَسْبِي ذُرِّيَّتَهُمْ قَالَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَيْتَ بِحُكْمِ اللهِ وَرُبَّمَا قَالَ قَضَيْتَ بِحُكْمِ الْمَلِكِ وَلَمْ يَذْكُرْ ابْنُ الْمُثَنَّى وَرُبَّمَا قَالَ قَضَيْتَ بِحُكْمِ الْمَلِكِ

اوفرمائیل. پورته شئ د خپل سردار په طرف یا د خپل قوم د غوره سړی په طرف. بیائے اوفرمائیل چه دا خلق د بنی قریظه ستاسو په فیصله باندے راکوز شوی دی (د قلعه نه) سعد اووے په دوی کښې چه څوک د جنګ لائق دی هغه د قتل کړے شی. او د هغوی ښځو او بچو لره د قید کړے شی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل تا د الله تعالی د حکم موافق یا بادشاه د الله د حکم موافق یا فرښتے (د جبرائیل) د حکم موافق (لکه څنګه چه هغه د الله د طرف نه راوړے وو) فیصله اوکړه[1].

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي حَدِيثِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ اللهِ وَقَالَ مَرَّةً لَقَدْ حَكَمْتَ بِحُكْمِ الْمَلِكِ

د شعبه نه ددغے په مثل روایت دے او دۀ په خپل حدیث کښې وئیلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چه تا د الله په حکم باندے فیصله اوکړه. او یو ځل ئے داسے اوفرمائیل. چه د بادشاه په حکم د فیصله اوکړه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أُصِيبَ سَعْدٌ ؓ يَوْمَ

د ام المؤمنین حضرت عائشے ؓ نه روایت دے وائی چه سعد بن

---

[1] قریظه حلیف وو د اوس او اوس د انصارو یوه لویه قبیله وه چه د هغے سردار سعد بن معاذ ؓ وو. هر کله چه قریظه په جنګ خندق کښې د رسول الله ﷺ سره دهوکه اوکړله او د کافرانو سره ئے په شریکه مسلمانان او وژل نو رسول الله ﷺ د هغه جنګ په ختمیدو باندے د بنی قریظه نه محاصره اوکړه. هغوی په یوه قلعه کښې وو. هر کله چه هغوی ته تکلیف شو نو په دے شرط ئے قلعه خالی کړه چه سعد بن معاذ ؓ چه زمونږ په حق کښې څۀ فیصله اوکړه هغه مونږ ته منظوره ده. امام نووی ؒ وئیلی دی ددے حدیث نه د پنچائت ثبوت وتلے دے کومے ته چه تحکیم وئیلے شی. او دا په اتفاق د اهل اسلام درست دے سوا د خوارجو نه. او هر کله چه حکم د فیصلے اوکړی نو د هغه حکم لازم دے. اوس امام لره یا کومو خلقو چه دۀ ته حکم اوکړو ددۀ د فیصلے نه واپس کیدل صحیح نه دی. البته د حکم نه مخکښې واپس کیدے شی. انتهی

خکه چه سعد زخمی وو او بغیر د مدد نه د هغۀ د خر نه کوزیدل ګران وو. او دا قیام د تعظیم دپاره نه وو. خکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. مۀ اودریږئ داسے لکه چه د عجمو خلق اوریدل کوی. نووی ؒ وئیلی دی چه جمهور علماؤ دے لره په قیام تعظیمی باندے محمول کړے دے او هغوی وئیلی دی چه د علماؤ او فضلاؤ د تعظیم دپاره اودریدل هر کله چه هغوی راشی مستحب دی قاضی عیاض ؒ وئیلی دی دا هغه قیام نۀ دے کوم چه منع دے بلکه منع هغه قیام دی چه یو سړے ناست وی او خلق د هغۀ مخے ته ولاړ وی د کومے پورے چه هغه ناست وی (لکه چه د هند د امیرانو په دربار کښې کیږی) نووی ؒ وئیلی دی کچرے راتلو والاخاوند د فضیلت وی نو د هغه په طرف اودریدل مستحب دی. او په دے باب کښې ډیر احادیث راغلی دی او ددے په ممانعت کښې یو چا سره هم حدیث نشته دے. او ما دے مسئلے لره جدا په یوه رساله کښې بیان کړی دی. (انتهی مختصراً)

الْخَنْدَقِ رَمَاهُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُقَالُ لَهُ ابْنُ الْعَرِقَةِ رَمَاهُ فِي الْأَكْحَلِ فَضَرَبَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْمَةً فِي الْمَسْجِدِ يَعُودُهُ مِنْ قَرِيبٍ فَلَمَّا رَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْخَنْدَقِ وَضَعَ السِّلَاحَ فَاغْتَسَلَ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ وَهُوَ يَنْفُضُ رَأْسَهُ مِنَ الْغُبَارِ فَقَالَ وَضَعْتَ السِّلَاحَ وَاللَّهِ مَا وَضَعْنَاهُ اخْرُجْ إِلَيْهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَيْنَ فَأَشَارَ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ فَقَاتَلَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلُوا عَلَى حُكْمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحُكْمَ فِيهِمْ إِلَى سَعْدٍ قَالَ فَإِنِّي أَحْكُمُ فِيهِمْ أَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ وَأَنْ تُسْبَى الذُّرِّيَّةُ وَالنِّسَاءُ وَتُقْسَمَ أَمْوَالُهُمْ

معاذ ؓ لره د خندق په ورځ یو سړی چه د قریشو نه وو د عرفې خوئ (دا د هغهٔ د مور نوم دے) په یو غشی او ویشتو. تیر د هغوی په په اکحل یعنی رڼه غټ رګ) کښ اولګیدو نو رسول الله ﷺ د سعد دپاره په جماعت کښ یوه خیمه اولګوله (دا دے نه معلومه شوه چه مسجد کښ اوده کیدل او اوسیدل روا دی) هلته به ئے د نژدے نه د هغوی تپوس کولو. هر کله چه حضرت ﷺ د خندق د جنګ نه واپس شو نو وسله ئے کیښوده او غسل ئے اوکړو. بیا حضرت جبرائیل ؑ د حضرت ﷺ خواله راغے. او سر ئے ښکته کړے وو د دوړو نه او اوئے وئیل تاسو خپله وسله کیښوده او مونږ خو په الله قسم دے وسله نۀ ده ایخودے. څئ د هغوی په طرف حضرت ﷺ اوفرمائیل چرته هغوی اشاره اوکړه د بنی قریظه په طرف بیا اوجنګیدو د هغوی سره رسول الله ﷺ او هغوی د قلعه نه راکوز شو د حضرت ﷺ په فیصله باندے راضی شو. حضرت ﷺ د هغوی فیصله په سعد باندے کیښوده. (ځکه چه هغه حلیف وو د سعد) سعد ؓ اووے زهٔ دا حکم کوم چه په دوی کښ کوم جنګ کولو والا دی هغه خو د اووژلے شی او ښځے او بچی د ئے قیدیان شی او د هغوی مال د تقسیم شی.

عَنْ هِشَامٍ قَالَ قَالَ أَبِي فَأُخْبِرْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ

هشام د خپل پلار (عروه) نه اوریدلی دی هغوی وائی ما ته خبر رارسیدلے دے چه رسول الله ﷺ سعد ؓ ته اوفرمائیل تا د بنی قریظه په باب کښ هغه حکم ورکړو کوم چه د الله عزوجل حکم وو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ سَعْدًا قَالَ وَتَحَجَّرَ كَلْمُهُ لِلْبُرْءِ فَقَالَ اللَّهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنْ لَيْسَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيَّ أَنْ أُجَاهِدَ فِيكَ مِنْ قَوْمٍ كَذَّبُوا رَسُولَكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د أم المؤمنين حضرت عائشے ؓ نه روایت دے وائی د سعد بن معاذ زخم اوچ شو او ښه کیدونکے وو. هغوی دُعا اوکړه یا الله ته پوهه ئے چه ما ته ستا په لاره کښ د جهاد کولو نه د هغه خلقو سره چا چه ستا د رسول الله ﷺ تکذیب کړے دے او راوتونکے یو

وَأَخْرَجُوهُ اَللّٰهُمَّ فَإِنْ كَانَ بَقِيَ مِنْ حَرْبِ قُرَيْشٍ شَيْءٌ فَأَبْقِنِي أُجَاهِدْهُمْ فِيكَ اللّٰهُمَّ فَإِنِّي أَظُنُّ أَنَّكَ قَدْ وَضَعْتَ الْحَرْبَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ فَإِنْ كُنْتَ وَضَعْتَ الْحَرْبَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ فَافْجُرْهَا وَاجْعَلْ مَوْتِي فِيهَا فَانْفَجَرَتْ مِنْ لَبَّتِهِ فَلَمْ يَرُعْهُمْ وَفِي الْمَسْجِدِ مَعَهُ خَيْمَةٌ مِنْ بَنِي غِفَارٍ إِلَّا وَالدَّمُ يَسِيلُ إِلَيْهِمْ فَقَالُوا يَا أَهْلَ الْخَيْمَةِ مَا هٰذَا الَّذِي يَأْتِينَا مِنْ قِبَلِكُمْ فَإِذَا سَعْدٌ جُرْحُهُ يَغِذُّ دَمًا فَمَاتَ مِنْهَا رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى

ځیز زیات غوره نۀ دے. یا الله کچرے د قریشو جنګ اوس هم باقی پاتے وی نو ما ژوندے اوساته زۀ به د هغوی سره جهاد کوم. یا الله زۀ دا ګنړم چه زمونږ او د هغوی جنګ تا ختم کړے دے. کچرے داسے وی نو دا زخم کهولاؤ کړه او خمامرګ دد ے نه راوله. (دا آرزو ده د شهادت او د مرګ آرزو نۀ ده کومه چه منع ده) بیا هغه زخم بهیدل شروع شو د پُختئ: د خائے نه یا د ختِ نه. پس په دغه شپه بهیدل شروع شو ، دا هله ده چه په حدیث کښ مِنْ لَّيْلَتِهٖ وی. قاضی عیاض وائی دغه صحیح دے) او خلق نه پریدو مګر په جماعت کښ د هغوی سره یوه خیمه وه د بنی غفار وینه د هغے په طرف بهیدلے. پس هغوی اووے اے د خیمے خلقو دا څۀ دی چه ستاسو د طرفه رابهیږی (معلومه شوه چه د سعد زخم بهیږی) آخر په دغه زخم کښ وفات شو (او الله تعالٰی شهادت ورکړو)

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَانْفَجَرَ مِنْ لَيْلَتِهِ فَمَا زَالَ يَسِيلُ حَتّٰى مَاتَ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ قَالَ فَذَاكَ حِينَ يَقُولُ الشَّاعِرُ ع

أَلَا يَا سَعْدُ سَعْدَ بَنِي مُعَاذٍ
فَمَا فَعَلَتْ قُرَيْظَةُ وَالنَّضِيرُ
لَعَمْرُكَ إِنَّ سَعْدَ بَنِي مُعَاذٍ
غَدَاةَ تَحَمَّلُوا لَهُوَ الصَّبُورُ
تَرَكْتُمْ قِدْرَكُمْ لَا شَيْءَ فِيهَا
وَ قِدْرُ الْقَوْمِ حَامِيَةٌ تَفُورُ

د هشام نه په دے اسناد سره روایت دے مګر په دے کښ دادی چه زخم په دغه شپه اوبهیدۀ او جاری شو تر دے پورے چه هغوی مړ شو. او په دے حدیث کښ دا هم زیاته ده چه په دے باب کښ شاعر دا شعرونه اووے (د هغے ترجمه داده) اے سعده د معاذ خویه قریظه او نضیر څۀ شول قسم دے ستا په عمر چه سعده په کوم سحر چه تا مصیبت اوچتوو خاموش دے. آیا اوس (چه د قریظه خلفاء وو) تاسو خپله کټوئ خالی پریخوده او د قوم کټوئ (یعنی خزرج د دویمے قبیلے) ګرمه ده، ختکیږی. نیک نفس ابو احباب (یعنی عبد الله بن ابی بن سلول منافق چه هغه پخپله رسول الله ﷺ ته د قینقاع د یهودو سفارش اوکړو او حضرت ﷺ ددۀ سفارش قبول

وَ قَدْ قَالَ الْکَرِیمُ أَبُو حُبَابٍ
أَقِیمُوا قَیْنُقَاعُ وَ لَا تَسِیرُوا
وَ قَدْ کَانُوا بِبَلْدَتِهِمْ ثِقَالًا
کَمَا ثَقُلَتْ بِمَیْطَانَ الصُّخُورُ

کړل وئیلی دی اودریږئ قینقاع والو او مهٔ ځئ حالانکه هغه خلق په ښهر کښې داسې ذلیله وو لکه په میطان (دا د یو غر نوم دے) کښې چه کتې ذلیله دی. غرض دا دے نه دادے چه سعد د بنی قریظه په سفارش باندے مستعد شی او هغوی لره بچ کړی.

بَابُ الْمُبَادَرَةِ بِالْغَزْوِ وَتَقْدِيمِ أَهَمِّ الْأَمْرَيْنِ الْمُتَعَارِضَيْنِ

باب : په جهاد کښې ابتداء کول او په دوؤ ضروری کارونو کښې اهم لره مخکښې کول

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ نَادٰى فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ انْصَرَفَ عَنِ الْأَحْزَابِ أَنْ لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ الظُّهْرَ إِلَّا فِي بَنِي قُرَيْظَةَ فَتَخَوَّفَ نَاسٌ فَوْتَ الْوَقْتِ فَصَلَّوْا دُونَ بَنِي قُرَيْظَةَ وَقَالَ آخَرُونَ لَا نُصَلِّي إِلَّا حَيْثُ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ فَاتَنَا الْوَقْتُ قَالَ فَمَا عَنَّفَ وَاحِدًا مِنَ الْفَرِيقَيْنِ

د حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے وائی چه هر کله حضرتؐ دغزوه احزاب نه واپس شو نو د حضرتؐ منادی آواز اوکړو چه څوک به هم د ماسپخین مونځ نهٔ کوی ترڅو چه د بنی قریظه محلې ته نهٔ وی رسیدلې. ځنې خلق اویریدل داسې نهٔ وی چه مونځ قضاء شی نو هغوی هلته د رسیدو نه مخکښې ادا کړو او ځنو اووې چه مونږ نهٔ کوو مګر چرته چه رسول اللهؐ حکم ورکړے دے اګر کهٔ مونځ قضاء شی. بیا حضرتؐ د دواړو جماعتونو نه د یو نه هم خفه نهٔ شو[1].

بَابُ رَدِّ الْمُهَاجِرِينَ إِلَى الْأَنْصَارِ مَنَائِحَهُمْ مِنَ الشَّجَرِ وَالثَّمَرِ حِينَ اسْتَغْنَوْا عَنْهَا بِالْفُتُوحِ

باب : د مهاجرینو انصارو ته هغه سامان واپس کول کوم چه انصارو مهاجرینو ته ورکړے وو. هر کله چه د فتوحات د وجې نه غنیان شو

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُونَ مِنْ مَكَّةَ الْمَدِينَةَ قَدِمُوا

د انس بن مالکؓ نه روایت دے هر کله چه مهاجرین د مکے مکرمې نه مدینې طیبې ته راغلل نو هغوی خالی لاس وو او

[1] نوویؒ وئیلی دی په یو روایت کښې د مازیګر ذکر دے او جمع داسې دے چه دا حکم د ماسپخین د وخت راتلو نه پس ورکړو دغه وخت ځنې خلقو د ماسپخین مونځ کړے وو او ځنو نهٔ وو کړے نو چا چه نهٔ وو کړے هغوی ته حکم اوشو د ماسپخین د مونځ په بنو قریظه کښې د کولو او چا چه کړے وو هغوی ته حکم اوشو چه د مازیګر مونځ به د هلته رسیدو په وخت ادا کړی. انتهی مختصراً

وَلَيْسَ بِأَيْدِيهِمْ شَيْءٌ وَكَانَ الْأَنْصَارُ أَهْلَ الْأَرْضِ وَالْعَقَارِ فَقَاسَمَهُمُ الْأَنْصَارُ عَلَى أَنْ أَعْطَوْهُمْ أَنْصَافَ ثِمَارِ أَمْوَالِهِمْ كُلَّ عَامٍ وَيَكْفُونَهُمُ الْعَمَلَ وَالْمَئُونَةَ وَكَانَتْ أُمُّ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَهِيَ تُدْعَى أُمَّ سُلَيْمٍ وَكَانَتْ أُمُّ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ كَانَ أَخًا لِأَنَسٍ لِأُمِّهِ وَكَانَتْ أَعْطَتْ أُمُّ أَنَسٍ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِذَاقًا لَهَا فَأَعْطَاهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّ أَيْمَنَ مَوْلَاتَهُ أُمَّ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا فَرَغَ مِنْ قِتَالِ أَهْلِ خَيْبَرَ وَانْصَرَفَ إِلَى الْمَدِينَةِ رَدَّ الْمُهَاجِرُونَ إِلَى الْأَنْصَارِ مَنَائِحَهُمُ الَّتِي كَانُوا مَنَحُوهُمْ مِنْ ثِمَارِهِمْ قَالَ فَرَدَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُمِّي عِذَاقَهَا وَأَعْطَى رَسُولُ اللهِ ﷺ أُمَّ أَيْمَنَ مَكَانَهُنَّ مِنْ حَائِطِهِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَكَانَ مِنْ شَأْنِ أُمِّ أَيْمَنَ أُمِّ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهَا كَانَتْ وَصِيفَةً لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَكَانَتْ مِنَ الْحَبَشَةِ فَلَمَّا وَلَدَتْ آمِنَةُ رَسُولَ اللهِ ﷺ بَعْدَ مَا تُوُفِّيَ أَبُوهُ فَكَانَتْ أُمُّ أَيْمَنَ تَحْضُنُهُ حَتَّى كَبِرَ رَسُولُ اللهِ

د انصارو سره زمکه او اونے وے (یعنی پټی هم وو او باغونه هم) نو انصارو په مهاجرینو خپل مال تقسیم کړو. په دے طریقه چه نیمه میوه به ئے هر کال هغوی ته ورکوله. او هغوی به کار او محنت کولو. د انس بن مالك ؓ مور چه د هغے نوم اُم سلیم وو او هغه د عبد الله بن ابی طلحه ؓ هم مور وه. چه د انس د مور خوئ وو. هغوی رسول الله ﷺ ته خپله د کهجورے یوه اونه ورکړه. رسول الله ﷺ هغه اونه ام ایمن ته ورکړه چه د حضرت ؓ آزاده کړے وینځه وه. او د اُسامه بن زید مور وه. (ددےنه معلومه شوه چه ام سلیم هغه اونه حضرت ﷺ ته په مثل د هبے ورکړے وه او هغے صرف د میوے خوړلو دپاره ورکړے وه نو حضرت ﷺ ام ایمن ته څنګه ورکړه) ابن شهاب وئیلی دی چه خبر راکړےدے ما لره انس بن مالك ؓ بیا چه هر کله رسول الله ﷺ د خیبر د جنګ نه اوزګار شو او مدینے ته واپس شو نو مهاجرینو انصارو ته د هغوی ورکړی څیزونه واپس کړل. أو رسول الله ﷺ هم زما مور ته د هغے اونه واپس ورکړه او ام ایمن ته ئے د هغے په ځائے د خپل باغ نه ورکړه. ابن شهاب وئیلی دی ام ایمن چه د اُسامه بن زید مور وه هغه د عبد المطلب د خوئ عبد الله وینځه وه (چه والد محترم وو د رسول الله ﷺ او هغه د حبشو وه. هر کله چه آمنے رسول الله ﷺ اوزیږه وو د هغوی د پلار د وفات نه پس نو ام ایمن به هغوی له خوراك ورکولو. تردے پورے چه حضرت ﷺ لوئے شو. بیا حضرت ﷺ هغوی لره آزاده کړه. بیائے د هغوی نکاه

ﷺ فَأَعْتَقَهَا ثُمَّ أَنْكَحَهَا زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ ثُمَّ تُوُفِّيَتْ بَعْدَ مَا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِخَمْسَةِ أَشْهُرٍ

د زيد بن حارثه سره اوتړه. او هغوی د رسول الله ﷺ د وفات نه پنځه مياشتې پس وفات شوه[1].

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا وَقَالَ حَامِدٌ وَابْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ يَجْعَلُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّخَلَاتِ مِنْ أَرْضِهِ حَتَّى فُتِحَتْ عَلَيْهِ قُرَيْظَةُ وَالنَّضِيرُ فَجَعَلَ بَعْدَ ذَلِكَ يَرُدُّ عَلَيْهِ مَا كَانَ أَعْطَاهُ قَالَ أَنَسٌ وَإِنَّ أَهْلِي أَمَرُونِي أَنْ آتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْأَلَهُ مَا كَانَ أَهْلُهُ أَعْطَوْهُ أَوْ بَعْضَهُ وَكَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَعْطَاهُ أُمَّ أَيْمَنَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَانِيهِنَّ فَجَاءَتْ أُمُّ أَيْمَنَ فَجَعَلَتِ الثَّوْبَ فِي عُنُقِي وَقَالَتْ وَاللهِ لَا نُعْطِيكَهُنَّ وَقَدْ أَعْطَانِيهِنَّ فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أُمَّ أَيْمَنَ اتْرُكِيهِ وَلَكِ كَذَا وَكَذَا وَتَقُولُ كَلَّا وَالَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَجَعَلَ يَقُولُ كَذَا حَتَّى أَعْطَاهَا عَشْرَةَ أَمْثَالِهِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ عَشْرَةِ أَمْثَالِهِ

د حضرت انس نه روايت دے چه هر کله رسول الله ﷺ مدينے ته تشريف راوړو نو چا به د خپلے زمکے اونے حضرت ﷺ ته ورکولے تردے پورے چه الله تعالى فتح کړو قريظه او نضير لره. حضرت ﷺ شروع کړو واپس کول هريو ته چه څۀ ئے ورکړى وو. انس وائى زمونږ خلقو زۀ اوليږلم د رسول الله ﷺ په خدمت کښ چه د هغوى نه اوغواړى هغه څۀ چه کوم زمونږ خلقو دوى ته ورکړى وو. ټول يا لږ د هغے نه. او رسول الله ﷺ هغه ام ايمن ته ورکړى وو. پس زۀ حضرت ﷺ خواله راغلم او ومے غوښتلو حضرت ﷺ هغه ما ته راکړو. په دے کښ ام ايمن راغله او هغے کپړه ځما په غاړه کښ واچوله او راته ئے اووے چه قسم په خدائے زۀ خو هغه تا لره نۀ درکوم. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل اے ام ايمن ورئے کړه دۀلره او زۀ به تا ته دا درکړم او هغے به دغه وينا کوله چه هيڅ کله ئے نۀ ورکوم په الله قسم دے چه د هغۀ نه سوا بل معبود نشته دے. حضرت ﷺ به ورته فرمائيل پريږده زۀ به تا ته دا درکړم دا درکړم تردے پورے چه حضرت ﷺ ام ايمن ته د هغه مال هومره لس حصے نورے يا هغے ته نزدے ورکړے.

بَاب جَوَازِ الْأَكْلِ مِنْ طَعَامِ

باب: د غنيمت په مال کښ کۀ خوړل وى نو د هغے

[1] يعنى د مساقات په طور بانديے او خو بغير د محنت نه داسے هم قبوله ورکړه. ددے حديث نه د انصارو فضيلت ثابت شو چه هغوى د خپلو رونړو مسلمانانو سره ښه سلوك اوكړو. او الله تعالى د هغوى په شان کښ فرمائيلى دى ﴿وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ﴾ د آخره پورے.

الْغَنِيمَةِ فِي دَارِ الْحَرْبِ

خوراك صحيح دے په دار الحرب كښ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ أَصَبْتُ جِرَابًا مِنْ شَحْمٍ يَوْمَ خَيْبَرَ قَالَ فَالْتَزَمْتُهُ فَقُلْتُ لَا أُعْطِي الْيَوْمَ أَحَدًا مِنْ هٰذَا شَيْئًا قَالَ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَبَسِّمًا

د عبد الله بن مغفل نه روايت دے وائی چه ما د خيبر په ورځ د چربئ يوه تهيلئ بياموندہ او پته مے كړه. او اومے وئيل دد ے نه خو زۀ نن هيچا له نه وركوم. بيا چه مے شا طرفته اوكتل نو څۀ ګورم چه رسول الله ﷺ (دد ے په اوريدو سره) نرئ خندا كوله خما په دغه وينا كولو باند ے[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ يَقُولُ رُمِيَ إِلَيْنَا جِرَابٌ فِيهِ طَعَامٌ وَشَحْمٌ يَوْمَ خَيْبَرَ فَوَثَبْتُ لِآخُذَهُ قَالَ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ

د عبد الله بن مغفل نه روايت دے چه ما ته يوه تهيلئ چه پكښ غله وه او چربئ وه د خيبر په ورځ خما په طرف راواغورځوله ما د هغے د حاصلولو دپاره منډے كړے. بيا چه مے اوكتل نو رسول الله ﷺ ولاړ وو ماله د هغوی نه شرم راغے.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ جِرَابٌ مِنْ شَحْمٍ وَلَمْ يَذْكُرِ الطَّعَامَ

د شعبه په د ے اسناد سره د غسے روايت دے مګر په د ے كښ دی د وازد ے تهيلئ او د خوراك ذكر نشته د ے.

بَاب كِتَبَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى هِرَقْلَ يَدْعُوهُ إِلَى الْإِسْلَامِ

باب: د رسول الله ﷺ د خط بيان كوم چه حضرت ﷺ د شام بادشاه هرقل ته ليكلے وو د اسلام راوړلو دپاره

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ أَخْبَرَهُ

د عبد الله بن عباس نه روايت دے چه ابوسفيان هغوی ته خلۀ په

---

[1] قاضی عياض وئيلی دی اجماع كړے ده علماؤ چه د اهل حرب د خوړلو غله خوړل صحيح دی. د كومے پورے چه مسلمان په دار الحرب كښ وی په قدر د حاجت سره خواه كۀ امام ورته اجازت وركړے وی يا نه. مګر د زهری په تر دا اجازت اخستل ضروری دی. مګر خرخول ئے د هيچا په تر روا نۀ دی. او كچرے خرڅ ئے كړی نو د هغے قيمت به د غنيمت په مال كښ شريكوی. دغه شان په خناور باند ے سورلی كول كپړے اغوستل او په وسله باند ے كار كول په جنګ كښ صحيح دی. دد ے حديث نه دا هم معلومه شوه چه اهل كتاب چه كوم خناور حلال كړی د هغے چربئ خوړل صحيح دی. اګر چه چربئ په يهودو باند ے حرامه ده. او دغه مذهب د ے د مالك او ابوحنيفه او شافعی او جمهورو علماؤ. او د اشهب او ابن قاسم او د خنو حنابلۀ په تر حرام دی. او دا هم معلومه شوه چه دا هل كتابو ذبحے صحيح دی او په د ے باند ے د اسلام د خاوندانو اجماع ده. سوا د شيعه ګانو نه او زمونږ مذهب دا د ے چه په هر شان د هغوی ذبيحه صحيح ده خواه كۀ بسم الله اووائی يا اونۀ وائی او د خنو په تر بسم الله وئيل ضروری دی ليكن كچرے هغه ئے د مسيح په نوم باند ے حلال كړی يا د څۀ ګرجے په نوم نو هغه به حلال نۀ وی زمونږ په تر باند ے. او دغه د جمهورو قول د ے. (نووی)

مِنْ فِيهِ إِلَى فِيهِ قَالَ انْطَلَقْتُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي كَانَتْ بَيْنِي وَبَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَبَيْنَا أَنَا بِالشَّامِ إِذْ جِيءَ بِكِتَابٍ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى هِرَقْلَ يَعْنِي عَظِيمَ الرُّومِ قَالَ وَكَانَ دَحْيَةُ الْكَلْبِيُّ جَاءَ بِهِ فَدَفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى فَدَفَعَهُ عَظِيمُ بُصْرَى إِلَى هِرَقْلَ فَقَالَ هِرَقْلُ هَلْ هَاهُنَا أَحَدٌ مِنْ قَوْمِ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ ﷺ قَالُوا نَعَمْ قَالَ فَدُعِيتُ فِي نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَدَخَلْنَا عَلَى هِرَقْلَ فَأَجْلَسَنَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ أَيُّكُمْ أَقْرَبُ نَسَبًا مِنْ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ ﷺ فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ فَقُلْتُ أَنَا فَأَجْلَسُونِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَجْلَسُوا أَصْحَابِي خَلْفِي ثُمَّ دَعَا بِتَرْجُمَانِهِ فَقَالَ لَهُ قُلْ لَهُمْ إِنِّي سَائِلٌ هَذَا عَنِ الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ ﷺ فَإِنْ كَذَبَنِي فَكَذِّبُوهُ قَالَ فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ وَايْمُ اللَّهِ لَوْلَا مَخَافَةُ أَنْ يُؤْثَرَ عَلَيَّ الْكَذِبُ لَكَذَبْتُ ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ سَلْهُ كَيْفَ حَسَبُهُ فِيكُمْ قَالَ قُلْتُ هُوَ فِينَا ذُو حَسَبٍ قَالَ فَهَلْ كَانَ

خله بیان کړے دے چه زۀ په هغه موده کښې کومه چه ځما او د رسول الله ﷺ په مینځ کښې راغلے وه (یعنی د صلح حدیبئے موده چه په سره کښې شوې وه) روان شوم زۀ د شام په ملك کښې وم چه په دے کښې د رسول الله ﷺ خط مبارك هرقل ته چه د روم بادشاه وو رااورسیدۀ. او دحیه کلبی ؓ هغه کتاب یعنی خط راوړے وو. پس هغوی د بصرے رئیس له ورکړو او د بصرے رئیس هرقل ته ورکړو. هرقل اووے دلته څوك شته ددغه سړی د قوم کوم چه د پیغمبرئ دعوه کړے ده؟ خلقو اووے آو. ابوسفیان ؓ وائی چه زۀ رااوغوښتے شوم او نور څو سړی د قریشو را سره وو. مونږه دهرقل خواته اورسیدو. هغۀ مونږ خپلے مخے ته کیښنولو. او تپوس ئے رانه اوکړو چه پتاسو کښې کوم یو زیات نږدے دے په رشته کښې هغه کس ته چه هغه خپل ځان ته پیغمبر وئیلے دے؟ ابوسفیان اووے زۀ (هرقل دا تپوس ځکه اوکړو چه څوك ورته په نسب کښې زیات نږدے وی هغۀ ته به د نورو نه زیات د هغوی حال ښۀ معلوم وی) بیا زۀ د هرقل مخے ته کینولے شوم او ځما ملګری ځما نه شاته کیښنولے شو. ددے نه پس هغوی خپل ترجمان رااوغوښتو (چه هغه به د بل ملك د خلقو په ژبه بادشاه لره پوهه کوۀ) او هغۀ ته ئے اووے. دے خلقو ته اووایه چه زۀ ددے سړی نه (یعنی ابوسفیان) نه دهغه سړی د حال تپوس کوم چه هغه خپل ځان ته پیغمبر وئیلے. پس کچرے دے (یعنی ابوسفیان) دروغ وائی نو ددۀ دروغ ما ته ښکاره بیانوئ ابوسفیان وائی په الله قسم دے کچرے ځما دا یره نۀ وے چه دا خلق به ځما دروغ ښکاره کړی (او زۀ به رُسوا شم) نو ما به دروغ وئیلے وے (ځکه چه ځما د حضرت ﷺ سره دشمنی وه) بیا

مِنْ اٰبَائِهٖ مَلِكٌ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُوْنَهٗ بِالْكَذِبِ قَبْلَ اَنْ يَّقُوْلَ مَا قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ وَمَنْ يَّتْبَعُهٗ اَشْرَافُ النَّاسِ اَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ قَالَ قُلْتُ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ قَالَ اَيَزِيْدُوْنَ اَمْ يَنْقُصُوْنَ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ يَزِيْدُوْنَ قَالَ هَلْ يَرْتَدُّ اَحَدٌ مِّنْهُمْ عَنْ دِيْنِهٖ بَعْدَ اَنْ يَّدْخُلَ فِيْهِ سَخْطَةً لَّهٗ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ قَاتَلْتُمُوْهُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَكَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ اِيَّاهُ قَالَ قُلْتُ تَكُوْنُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهٗ سِجَالًا يُصِيْبُ مِنَّا وَنُصِيْبُ مِنْهُ قَالَ فَهَلْ يَغْدِرُ قُلْتُ لَا وَنَحْنُ مِنْهُ فِيْ مُدَّةٍ لَا نَدْرِيْ مَا هُوَ صَانِعٌ فِيْهَا قَالَ فَوَاللّٰهِ مَا اَمْكَنَنِيْ مِنْ كَلِمَةٍ اُدْخِلُ فِيْهَا شَيْئًا غَيْرَ هٰذِهٖ قَالَ فَهَلْ قَالَ هٰذَا الْقَوْلَ اَحَدٌ قَبْلَهٗ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ لِتَرْجُمَانِهٖ قُلْ لَهٗ اِنِّيْ سَاَلْتُكَ عَنْ حَسَبِهٖ فَزَعَمْتَ اَنَّهٗ فِيْكُمْ ذُوْ حَسَبٍ وَكَذٰلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِيْ اَحْسَابِ قَوْمِهَا وَسَاَلْتُكَ هَلْ كَانَ فِيْ اٰبَائِهٖ مَلِكٌ فَزَعَمْتَ اَنْ لَا فَقُلْتُ لَوْ كَانَ مِنْ اٰبَائِهٖ مَلِكٌ قُلْتُ رَجُلٌ يَّطْلُبُ مُلْكَ اٰبَائِهٖ وَسَاَلْتُكَ عَنْ اَتْبَاعِهٖ

هرقل خپل ترجمان ته اووے. دهٔ نه تپوس اوکړه چه د هغه سرى (يعنى د حضرت محمد ﷺ) حسب څهٔ دے (يعنى خاندان) ابوسفيان وائى ما اووے چه د هغهٔ حسب خو په مونږ کښې ډير غوره دے. هرقل اووے د هغوى په پلار نيکهٔ کښې څوک بادشاه تير شوے دے ما اووے نه هرقل اووے چرته تا د هغوى نه دروغ ونيل اوريدلى دى ددے دعوے نه مخکښې (يعنى د نبوت د دعوے نه) ما اووے نه هرقل اووے بنه نو د هغهٔ ملګرتيا غټان خلق کوى او کهٔ غريبانان؟ ما اووے غريبانان. هرقل اووے د هغوى تابعدار زياتيږى او کهٔ کميږى؟ ما اووے زياتيږى بيا هرقل اووے د هغوى په تابعدارو کښې چرته څوک د هغوى ددين د قبلولو نه پس ورته دين بد ښکاره شوے او واپس شوے دے؟ ما اووے نه هرقل اووے تا د هغوى سره جنګ هم کړے دے؟ ما اووے آو. هرقل اووے ستاسو د هغوى سره څنګه جنګ شوے دے (يعنى څوک غالب راځى) ما اووے زمونږ او د هغوى جنګ د بوقو پشان کله اخوا کله ديخوا کيږى (لکه د کوهى بوقه چه په اوبو راويستلو کښې يوے غاړے او بلے غاړے له ځى دغه شان کله زمونږ او کله د هغوى فتح وى) هغه زمونږ نقصان کوى او مونږ د هغوى نقصان کوو. هرقل اووے هغوى اقرار لره ماتوى؟ ما اووے نه خو اوس د يوے مدے دپاره زمونږه او د هغوى په مينځ کښې اقرار شوے دے ګورو چه هغوى په دے کښې څهٔ کوى (يعنى وړاندے کيدے شى چه وعده خلاقى اوکړى) ابوسفيان اووے قسم په خدائے چه ما ته د خپل طرف نه په بل يو باب کښې د څهٔ فقرے لګولو موقع ميلاؤ نهٔ شوه سوا ددے خبرے نه (چه ما په دے کښې د عداوت په وجه دا

أَضْعَفَاؤُهُمْ أَمْ أَشْرَافُهُمْ فَقُلْتَ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ فَزَعَمْتَ أَنْ لاَ فَقَدْ عَرَفْتُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لِيَدَعَ الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ ثُمَّ يَذْهَبَ فَيَكْذِبَ عَلَى اللهِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَهُ سَخْطَةً لَهُ فَزَعَمْتَ أَنْ لاَ وَكَذَلِكَ الإِيمَانُ إِذَا خَالَطَ بَشَاشَةَ الْقُلُوبِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَزِيدُونَ أَوْ يَنْقُصُونَ فَزَعَمْتَ أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ وَكَذَلِكَ الإِيمَانُ حَتَّى يَتِمَّ وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَاتَلْتُمُوهُ فَزَعَمْتَ أَنَّكُمْ قَدْ قَاتَلْتُمُوهُ فَتَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ سِجَالاً يَنَالُ مِنْكُمْ وَتَنَالُونَ مِنْهُ وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْتَلَى ثُمَّ تَكُونُ لَهُمُ الْعَاقِبَةُ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ فَزَعَمْتَ أَنَّهُ لاَ يَغْدِرُ وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ لاَ تَغْدِرُ وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ فَزَعَمْتَ أَنْ لاَ فَقُلْتُ لَوْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ قُلْتُ رَجُلٌ ائْتَمَّ بِقَوْلٍ قِيلَ قَبْلَهُ قَالَ ثُمَّ قَالَ بِمَ يَأْمُرُكُمْ قُلْتُ يَأْمُرُنَا بِالصَّلاَةِ وَالزَّكَاةِ وَالصِّلَةِ

خبره زياته كړه چه دا اوس چه كومه د صلح موده مقرر شوے ده كيدے شي چه په دے كښې وعده خلافي اوكړي، هرقل اووے ددے نه مخكښې هم (ددوى په قوم يا ملك كښې) چا د پيغمبرئ دعوه كړے وه؟ ما اوے نه بيا هرقل خپل ترجمان ته اووے ته دے سړي يعني ابوسفيان ته اووايه چه ما ستا نه د هغوى د حسب او نسب تپوس اوكړو نو تا اووے چه د هغوى نسب ډير بهتر دے. او د پيغمبرانو دغه قاعده ده چه هغوى هميشه د خپل قوم په اوچتو خاندانونو كښې پيدا شوي دي. بيا ما ستا نه تپوس اوكړو چه ددوى په پلار نيكهٔ كښې څوك بادشاه تير شوے دے؟ تا اووے نه او دا تپوس مے څكه اوكړو چه كچرے ددهٔ په پلار او نيكهٔ كښې څوك بادشاه وے نو دا ګمان به كيدے شو چه د خپلو بزرګانو سلطنت غواړي. او ما ستا نه تپوس اوكړو چه ددهٔ ملګرتيا كولو والاغټان خلق دي يا غريبانان؟ نو تا آيا غريبانان. او هميشه (د هر چا مخكښې د پيغمبرانو ملګرتيا هم دغه غريبو خلقو كړے ده (څكه چه مالدارانو ته د چا په فرمانبردارئ كولو سره شرم ورځي او غريبانانو ته نهٔ ورځي) او ما ستا نه تپوس اوكړو چه د نبوت د دعوے نه مخكښې تاسوچرته په هغوى كښې دروغ ليدلي دي. تا اووے نه. ددے نه ما دا خبره معلومه كړه. چه هر كله هغوى په خلقو باندے د دروغو طوفان نهٔ تړي نو په الله جل جلاله باندے څنګه دروغ اوتړي (چه په دروغه دعوه به اوكړي) او ستا نه ما تپوس اوكړو چه څوك د هغوى په دين كښې د راتلو نه پس ئې دغه دين بد ګنړلے او واپس شوے دے؟ تا اووے. نه او د ايمان دغه حال دے چه كله زړهٔ ته راشي نو په خوشحالئ سره پكښې ځائے اونيسي. او ما

وَالْعَفَافِ قَالَ إِنْ يَكُنْ مَا تَقُولُ فِيهِ
حَقًّا فَإِنَّهُ نَبِيٌّ وَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ
خَارِجٌ وَلَمْ أَكُنْ أَظُنُّهُ مِنْكُمْ وَلَوْ أَنِّي
أَعْلَمُ أَنِّي أَخْلُصُ إِلَيْهِ لَأَحْبَبْتُ لِقَاءَهُ
وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمَيْهِ
وَلَيَبْلُغَنَّ مُلْكُهُ مَا تَحْتَ قَدَمَيَّ قَالَ ثُمَّ
دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فَقَرَأَهُ فَإِذَا فِيهِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ
الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ إِلَى هِرَقْلَ
عَظِيمِ الرُّومِ سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ
الْهُدَى أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ
الْإِسْلَامِ أَسْلِمْ تَسْلَمْ وَأَسْلِمْ يُؤْتِكَ اللَّهُ
أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ وَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ
إِثْمَ الْأَرِيسِيِّينَ وَ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ
تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ
لَا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا
يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ
فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا
مُسْلِمُونَ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ
الْكِتَابِ ارْتَفَعَتِ الْأَصْوَاتُ عِنْدَهُ
وَكَثُرَ اللَّغَطُ وَأَمَرَ بِنَا فَأُخْرِجْنَا قَالَ
فَقُلْتُ لِأَصْحَابِي حِينَ خَرَجْنَا لَقَدْ
أَمِرَ أَمْرُ ابْنِ أَبِي كَبْشَةَ إِنَّهُ لَيَخَافُهُ مَلِكُ

ستا نه تپوس اوکړو چه دهغوی پیروکاران زیاتیږی یاکمیږی. تا اووے هغوی زیاتیږی او دغه د ایمان حال دے ددغه وخته پورے چه پوره شی. (بیا د کمال نه پس کۀ کمیږی نو قباحت نۀ دے) او ما ستا نه تپوس اوکړو چه تاسو د هغوی سره جنګیږئ. نوتا اووے مونږ جنګیږو او زمونږ او د هغوی جنګ برابر دے. د ډول په شان چه کله دیخوا هغوی ستاسو نقصان کوی او تاسو اخوا د هغوی نقصان کوئ. او دغه شان ازمائش راځی په پیغمبرانو باندے (ددے دپاره چه هغوی ته د صبر او تکلیف اجر میلاؤ شی. او د هغوی د پیروکارانو درجے اوچتے شی) بیا په آخر کښ هم هغوی غالب راځی. او ما ستا نه تپوس اوکړو چه هغوی دهوکه کوی؟ تا اووے هغوی دهوکه نۀ کوی. او هم دغه حال دے د پیغمبرانو چه هغوی دهوکے نۀ کوی (یعنی عهد شکنی) او ما ستا نه تپوس اوکړو چه ددے نه مخکښ هم چا د نبوت دعوه کړے ده. تا اووے نه دا ما ددے دپاره تپوس اوکړو چه کچرے ددوی نه چا مخکښ دا دعوه کړے وے نو ګمان کیدے شو چه دۀ هم د هغوی تابعداری کړے وی. بیا هرقل اووے هغوی تاسو ته د کومو خبرو حکم کوی. ما اووے هغوی حکم کوی د مانځۀ کولو او زکوة ورکولو او د خپلوانو سره د ښۀ سلوک کولو او د بدو خبرونه د بچ کیدو. هرقل اووے کچرے د هغوی هم دغه حال وی کوم چه تاسو بیان کړو. بیشکه هغوی پیغمبر دے. او زۀ پوهه وم (د وړاندے کتابونو په لوستو سره) چه دا پیغمبر به پیدا کیږی لیکن خمادا خیال نۀ وو چه هغه به ستاسو خلقو کښ پیدا کیږی. او کچرے ما ته دا پته وے چه زۀ به د هغوی پورے اورسم نو ما د هغوی سره

بَنِي الْأَصْفَرِ قَالَ فَمَا زِلْتُ مُوقِنًا بِأَمْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سَيَظْهَرُ حَتَّى أَدْخَلَ اللهُ عَلَيَّ الْإِسْلَامَ

میلاویدل غوره کولو. (د بخاري په روایت کښې دي چه زهٔ به په هر شان میلاویدم محنت او مشقت به مې برداشت کوو) او کچرې زهٔ د هغوی سره وے نو ما به د هغوی خپې وینځلې. او خامخا د هغوی حکومت تر دے ځائے پورے به راشي په کوم ځائے کښې اوس ځما دواړه خپې دي. بیا هرقل د رسول الله ﷺ خط رااوغوښتو او هغهٔ ئے اولوستو او په هغے کښې دا لیکلي وو چه شروع کوم په نوم د الله پاك چه لوئے مهربانه او رحم والا دے. د محمد رسول الله ﷺ د طرفنه د هرقل ته معلومه وي چه د روم بادشاه دے. سلام دِ وي په هغه چا باندے چه د هدایت تابعداري کوي. روستو ددے نه زهٔ تا ته هدایت درکوم چه مسلمان شه نو سلامت به پاتے شے (یعني ستا حکومت او روح او عزت به دِ ټول سلامت او په حفاظت کښې پاتے شي) ثواب درکړي. او کچرے تهٔ نهٔ منې نو په تا باندے به وبال شي د ریسیین اے اهل کتابو! اومنئ یوه خبره چه هغه نیغه او صفا ده زمونږه او ستاسو په مینځ کښې چه بندګي به نهٔ کوو د الله تعالی نه سوا د بل هیچا. او شریك به نهٔ ګرځوو د الله جل شانه سره هیچا لره. د آخر ایت پورے. هرکله چه هرقل ددے خط د لوستو نه اوزګار شو نو د خلقو آوازونه اوچت شو او بك بك ډیر شو او مونږ بهر راویستلے شو. ابوسفیان وائي ما خپلو ملګرو ته اووے. د ابوکبشه د خوئے درجه ډیره مخکښې شوله ددوی نه د بني اصفر بادشاه یریږي. ابوسفیان وائي د هغه ورځے نه ځما یقین وو چه رسول الله ﷺ به کامیابیږي او غالب به راځي. تر دے پورے چه الله زهٔ هم مسلمان کړم[1].

---

[1] هرقل په کسرے د ها او فتح د را او سکون د قاف سره نوم وو. د روم د بادشاه او خطاب د هغهٔ قیصر دے. او خنو هرقل

په کسرے د ها او په سکون د را او په کسرے د قاف ونیلے دے. او جوهری په صحاح کښې دغه نقل کړے دے. بصری په ضم د با سره یو ښار دے د شام او د حجاز په مینځ کښې. بلکه د هرقل دا خیال وو چه کیدے شی په بنی اسرائیلو کښې پیدا وی. لکه نور پیغمبران چه ډیر په بنی اسرائیلو کښې پیدا دی. یا د شام په ملك کښې پیدا وی یا په بل دولت مند او تعلیم یافته قوم کښې په دغه زمانه کښې د عروب قوم نۀ مالدار وو نۀ ذی علم. او نورو قومونو به د عربو خلقو ته د عزت په نظر سره نۀ کتل د هغوی سوا د لوټ مار کولو او په خپل مینځ کښې د جنګ جدل کولو نه بل کار نۀ وو. آخر الله جل جلاله خپل قدرت لره ښودل اوغوښتو او په و داسے قوم کښې نے حضرت ﷺ لره پیدا کړو چه چرته د چا ګمان هم نۀ وو. دا یو لوئے دلیل دے د حضرت ﷺ د نبوت او د الله تعالی د قدرت یوه لویه نخښه ده. یعنی کوم خلق چه ما تلو ته نۀ پریږدی. بلکه د داسے اراده کول سره ما منع کوی. او خما د وژلو په فکر کښې وی ورنه زۀ به خامخا د هغوی سره ملاؤ شوے وم. امام نووی وائی دا عذر د هغۀ صحیح نۀ وو. بلکه هغه بادشاهی او حکومت غوره کړو او دین اسلام ئے اختیار نۀ کړو. نووی وائی ددے حدیث مبارك نه ډیرے داسے فائدے وتلی دی. یو خو کافرانو لر د جنګ نه وړاندے د اسلام دعوت ورکول. او دا هله واجب دی کچرے هغوی ته د اسلام دعوت رسیدلے نۀ وی او کچرے رسیدلے وی نو بیا مستحب دے دوباره دعوت ورکول. دویم دا چه په خبر واحد باندے عمل واجب دے خکه چه دحیه یو سړی هغه خط وړے وو او په دے باندے اجماع ده. دریم دا چه د کتاب شروع کول د بسم الله نه مستحب دی او د حمد الهی نه هم ذکر الهی مراد دے. څلورم دا چه په خط کښې رومیے د کاتب نوم لیکل بیا د مکتوب الیه نوم لیکل مسنون دی. او په دے مسئله کښې اختلاف دے لیکن د اکثرو علماؤ دغه قول دے چه رومبی کاتب لره خپل نوم لیکل مستحب دی. او یو جماعت مخکښې د مکتوب الیه د نوم لیکلو اجازت هم ورکړے دے او زید بن ثابت د معاویه په خط کښې رومبے د معاویه نوم لیکلے وو. او په لفافه باندے به د مکتوب الیه نوم داسے لیکے الی فلان. او په القابو کښې به افراط تفریط نۀ کوی. څکه چه حضرت ﷺ هرقل ته صرف د روم رئیس لیکلے وو او زیاته مبالغه ئے د هغۀ په تعریف کښې نۀ وه کړے. انتهٰی مختصراً. دا حضرت ﷺ خپل اُمت ته طریقه اوښودله چه په کافرانو باندے په دے طریقه سره سلام کوئ. ددے دپاره چه په حقیقت کښې په هغوی باندے سلام نۀ وی. او هغوی ته سلام معلومیږی. دغه شان کۀ په یومجلس کښې کافر او مسلمانان دواړه موجود وی او هلته یو مسلمان راشی نو داسے د وائی «سَلَامٌ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰی» د بخاری په روایت کښې یریسیین دے او ددے په معنٰی کښې اختلاف دے. بعضے وائی مراد ددے نه زمیندار او رعایا دی. یعنی کچرے ته مسلمان نۀ شوے نو ستا په وجه رعایا هم نۀ مسلمانیږی. او ددے ټولو ګناه به هم ستا په سر باندے پاریږی. او دبیهقی په روایت کښې صفا د اکارین لفظ موجود دے چه د هغے معنٰی دغه د مزارعین ده. او بعضو ونیلی دی مراد ترے یهود او نصرٰی دی. چه د عبد الله بن اریس تابعدار دی. او اروسیه دغه طرفته منسوب دی. او بعضے وائی د اریسیین نه مراد هغه بادشاه دے چه هغه خلقو لره د غلط مذهب په طرف راغواړی. او څنې وائی اریسیین په بنی اسرائیلو کښې هغه خلق و کومو چه خپل پیغمبر وژلے وو. والله اعلم (نووی مع زیادة) دا ابوسفیان حضرت ﷺ ته اووے. ابن ابی کبشه یو سړے وو په عروب کښې چه دهغۀ مذهب د نورو عربو نه خلاف وو. نو رسول الله ﷺ له ئے مشابهت ورکړو. د هغه سړی سره چه د حضرت ﷺ مذهب هم د هغوی نه خلاف وو. او څنو ونیلی دی ابوکبشه د حضرت ﷺ د مور پلار وو. او څنو ونیلی دی د حضرت ﷺ د پیو پلار وو (یعنی حارث بن عبد العزیٰ) او دائے ورته د دشمنئ نه اووے په دے واسطه چه د حضرت ﷺ په اصل نسب کښې هغۀ ته د طعن کولو څۀ موقع نۀ وه. (نووی) بنو اصفر د روم نصرٰی دی اصفر ونیلے شی زیړ ته یو خل حبشی په رومیانو باندے غالب شو او د هغوی نه ئے اولاد اوشو نو د حبشیانو تور والے او د روم د

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ وَكَانَ قَيْصَرُ لَمَّا كَشَفَ اللهُ عَنْهُ جُنُودَ فَارِسَ مَشٰى مِنْ حِمْصَ إِلٰى إِيلِيَاءَ شُكْرًا لِمَا أَبْلَاهُ اللهُ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللهِ وَرَسُولِهِ وَقَالَ إِثْمَ الْيَرِيسِيِّينَ وَقَالَ بِدَاعِيَةِ الْإِسْلَامِ

د ابن شهاب نه په دے اسناد سره روایت دے او په دے حدیث کښې دا زیاته ده چه قیصر هر کله د ایران فوج لره الله تعالی شکست ورکړو نو د حمص نه د ایلیا (بیت المقدس) طرف ته لاړ د غه فتح د شکر ویستلو دپاره او په خط کښې دادی چه د محمد ﷺ د الله د بنده او د هغهٔ د رسول د طرفنه او د ایسیین په بدله یریسیین دےاو د دعایة په بدله داعیه دے یعنی راغوارم زهٔ تالره د داعیه اسلام په طرف او هغه د توحید کلمه ده.

بَابُ كُتُبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى مُلُوكِ الْكُفَّارِ يَدْعُوهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ

باب : د رسول الله ﷺ خط کافرانو بادشاهانو په طرف د اسلام په دعوت کښې

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ كَتَبَ إِلٰى كِسْرٰى وَإِلٰى قَيْصَرَ وَإِلَى النَّجَاشِيِّ وَإِلٰى كُلِّ جَبَّارٍ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللهِ تَعَالٰى وَلَيْسَ بِالنَّجَاشِيِّ الَّذِي صَلّٰى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د انس رضی الله عنه نه روایت دےچه رسول الله ﷺ کسرٰی او قیصر او نجاشی او هر یو حاکم ته اولیکل . او د الله تعالی طرفته ئے رااوغوښتل هغوی لره. او دا نجاشی هغه نهٔ وو په کوم چه رسول الله ﷺ د جنازے مونځ کړے وو[1]

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَقُلْ وَلَيْسَ بِالنَّجَاشِيِّ الَّذِي

انس بن مالک رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه د پورتنی حدیث په مثل روایت کړے دے مګر په دے کښې دا ذکر نشته دے چه دا نجاشی هغه

خلقو سپین والے یو خائے شو او د زیړ رنګ بچی ترے پیدا .او ابو اسحٰق وئیلی دی چه اصفر نوم دے د اصفر بن روم بن عیصو بن اسحاق بن ابراهیم د هغوی په اولاد کښې او بنو الزرقا هم هغوی ته وئیلے شی ځکه چه د هغوی سترګے اکثر شنے دی

[1] نووی وئیلی دی کسرٰی به ئے هر یو د فارس بادشاه ته وئیلو او قیصر به ئے د روم بادشاه ته وئیلو او نجاشی به ئے د حبشو بادشاه ته او خاقان به ئے تُرکو بادشاه ته او فرعون به ئے د قبط بادشاه ته او عزیز به ئے د مصر بادشاه ته او تبع به ئے د حمیر بادشاه ته او فغفور به ئے د چین بادشاه ته او زارا به ئے د روس بادشاه ته وئیلو.(انتهٰی مع زیادة)

صَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عَنْ أَنَسٍ وَلَمْ يَذْكُرْ وَلَيْسَ بِالنَّجَاشِيِّ الَّذِي
صَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بَابٌ فِي غَزْوَةِ حُنَيْنٍ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَلَزِمْتُ أَنَا وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ نُفَارِقْهُ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَغْلَةٍ لَهُ بَيْضَاءَ [illegible] فَلَمَّا الْتَقَى الْمُسْلِمُونَ وَالْكُفَّارُ وَلَّى الْمُسْلِمُونَ مُدْبِرِينَ فَطَفِقَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكُضُ بَغْلَتَهُ قِبَلَ الْكُفَّارِ قَالَ عَبَّاسٌ وَأَنَا آخِذٌ بِلِجَامِ بَغْلَةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكُفُّهَا إِرَادَةَ أَنْ لَا تُسْرِعَ وَأَبُو سُفْيَانَ آخِذٌ بِرِكَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْ عَبَّاسُ نَادِ أَصْحَابَ السَّمُرَةِ فَقَالَ عَبَّاسٌ وَكَانَ رَجُلًا صَيِّتًا فَقُلْتُ بِأَعْلَى صَوْتِي أَيْنَ أَصْحَابُ السَّمُرَةِ قَالَ فَوَاللّٰهِ لَكَأَنَّ عَطْفَتَهُمْ حِينَ سَمِعُوا صَوْتِي عَطْفَةُ الْبَقَرِ عَلَى أَوْلَادِهَا فَقَالُوا يَا لَبَّيْكَ يَا لَبَّيْكَ قَالَ فَاقْتَتَلُوا

نه دے چه په هغه باندے حضرت ﷺ جنازه اوکړه
د حضرت انسؓ نه روایت دے او په دے کښې دا نشته دے چه دا هغه نجاشی نه دے په چا باندے چه نبی کریم ﷺ مونځ اوکړو

باب د جنګ حنین بیان

د عباس بن عبد المطلبؓ نه روایت دے زهٔ د حنین، (دا یوه صحرا ده په مینځ د مکے او د طائف کښې د عرفات نه لرے) په ورځ د رسول الله ﷺ سره موجود وم نو زهٔ او ابوسفیان بن حارث بن عبد المطلب (د حضرت ﷺ د تره خوئ) دواړه د حضرت ﷺ سره یو خائے پاتے شو او جدا نه شو او حضرت ﷺ په یو سپین قچر باندے سور و [illegible] هغه فروه بن نفاثه جذامی حضرت ﷺ ته په تحفه کښې ورکړے وو (چه هغے ته به ئے شهباء او دلّ دلّ هم وئیلو) هر کله چه کافران او مسلمانان یو بل ته مخامخ شو. نو مسلمانان په شا اوتختیدو او رسول الله ﷺ پونده ورکوله خپل قچر لره د کافرو په طرف د تلو دپاره (دا د هغوی د بهادرئ کمال وو چه په داسے سخت وخت کښې په قچر باندے سور وو ورنه اسونه هم موجود وو) حضرت عباسؓ وائی ما د حضرتؐ د خچر واګے نیولے دے او هغه مے د تیز تلو نه منع کولو. او ابوسفیان د حضرت ﷺ رکاب نیولے وو. آخر جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے عباسه اصحابِ سمره ته چغه کړه. او د عباسؓ آواز ډیر اوچت وو (هغوی چه به د شپے خپلو غلامانو ته آواز اوکړو نو د اتو میلو پورے به اوریدے شو) عباسؓ وائی ما په اوچت آواز سره چغه کړه چه اصحابِ سمره چرته دی ددے په اوریدو سره په الله قسم دے هغوی داسے واپس شو لکه څنګه چه غوا د خپلو بچو خواله په منډه راځی. او اوئے وئیل حاضر

وَالْكُفَّارَ وَالدَّعْوَةُ فِي الْأَنْصَارِ يَقُولُونَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالَ ثُمَّ قُصِرَتْ الدَّعْوَةُ عَلَى بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ فَقَالُوا يَا بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ يَا بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ فَنَظَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى بَغْلَتِهِ كَالْمُتَطَاوِلِ عَلَيْهَا إِلَى قِتَالِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا حِينَ حَمِيَ الْوَطِيسُ قَالَ ثُمَّ أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَصَيَاتٍ فَرَمَى بِهِنَّ وُجُوهَ الْكُفَّارِ ثُمَّ قَالَ انْهَزَمُوا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ قَالَ فَذَهَبْتُ أَنْظُرُ فَإِذَا الْقِتَالُ عَلَى هَيْئَتِهِ فِيمَا أَرَى قَالَ فَوَاللهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ رَمَاهُمْ بِحَصَيَاتِهِ فَمَا زِلْتُ أَرَى حَدَّهُمْ كَلِيلًا وَأَمْرَهُمْ مُدْبِرًا

دی حاضر دی. (دد ے نه معلومه شوه چه هغه لر ے نه وو تختیدلی او نه ټول تختیدلی وو بلکه ځنې نوی مسلمانان وغیره دفعتًا د غشو د باران نه واپس شو او ګربړ جوړ شو بیا الله تعالی د مسلمانانو زړونه مضبوط کړل او بیائے د کافرانو سره جنګ شروع کړو او انصارو لره ئے داسے رااوغوښتل اے د انصارو خلقو! اے د انصارو خلقو! بیا تمام شو رابلل په بنی حارث بن حزرج باندے اے بنی حارث بن حزرج رسول الله ﷺ په خپل قچر باندے وو ځته لره اوږد کړے شوے. حضرت ﷺ اوکتل د هغوی جنګ ته او اوئے فرمائیل. دا وخت دے د تنور د جوش. (یعنی د واخت جنګ ښۀ په ګرمهګرمئ سره روان دے) بیا حضرت ﷺ یو څو ګیټئ رااوچتے کړے او د کافرو په مخ ئے اوویشتے او اوئے فرمائیل شکست او موندو کافرانو قسم مے د وی ږ محمد په رب باندے. حضرت عباس ؓ وائی زۀ د لیدو دپاره وراغلم نو جنګ هم هغسے شروع وو. په دے کښې په الله قسم دے چه حضرت ﷺ ګیټئ او ویشتے نو څۀ ګورم چه د کافرو زور ختم شو. او د هغوی کار اُلټه شو[1]

---

[1] : دد ے نه دا معلومه شوه چه د مشراکانو تحفه اخستل صحیح دی خو په بل حدیث کښې دی چه مونږ نۀاخلو د مشرکانو تحفه او په یو روایت کښې دی چه حضرت ﷺ د مشرکانو هدیه واپس ورکړه. او صحیح داده چه حضرت ﷺ لره هدیه اخستل صحیح وو بل چا عامل لره صحیح نۀ دی. بلکه هغه غلا ده. او د اهل کتابو دغه هدیه حضرت ﷺ قبوله او فرمائیله لکه د مقوقس او ملوك شام. نووی وئیلی دی قاضی او عامل اګر که حرامه هدیه واخلی نو بیاد ئے هغه ورکړی او کچرے د ورکونکی پته نۀ لګی نو په بیت المال کښې د هغه هدیه داخله کړی په صحیح بخاری کښې دی چه دغه قچر حضرت ﷺ ته د ایله بادشاه ورکړے وو چه د هغۀ نوم یحنه بن ردیا وو. سمره یوه ځنګلی اونه ده. او د اصحاب سمره نه هغه خلق مراد دی چه هغوی د شجره رضوان یعنی د رضوان د اونې لاندے د حضرت ﷺ نه بیعت کړے وو. چه د کافرانو سره په جنګ کښې مړه شو خو هیڅکله به اونۀ تختو. نووی وائی دلته د حضرت ﷺ نه دوه معجزے ښکاره شوے یوه فعلی او بله خبری فعلی خو نے ګیټئ او ویشتے او په هغے سره کافرانو ته شکست اوشو. خبری دا چه بیان کول د وړاندے نه یعنی د مخکښې نه چه کافرانو ته به شکست وی. او دغه شان اوشوه .حضرت عباس ؓ وائی زۀ د لیدو دپاره لاړم نو جنګ هغه شان کیدلو. په دے کښې په الله قسم دے چه حضرت ﷺ ګیټئ اوویشتلے نو څۀ ګورم چه د کافرانو زور کم شو او د هغوی کار اُلټه شو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَرْوَةُ بْنُ نُعَامَةَ الْجُذَامِيُّ وَقَالَ انْهَزَمُوا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ انْهَزَمُوا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ حَتّٰى هَزَمَهُمُ اللهُ قَالَ وَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكُضُ خَلْفَهُمْ عَلٰى بَغْلَتِهِ

د زهری نه په دے اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے مگر په دے کښ (د هدیے ورکونکی نوم) فروه بن نعامه جذامی دے او اوئے وئیل چه د کعبے په رب مے قسم هغوی شکست اوخوړو، د کعبے په رب قسم هغوی شکست اوخوړو او په دے حدیث کښ دا زیاته ده. ترد ے پورے چه الله تعالیٰ دوی ته شکست ورکړو. او اوئے وئیل لکه زهٔ وینم رسول الله ﷺ لره چه حضرت ﷺ خپل قچر لره د هغوی نه روستو تیز وو.

عَنِ الْعَبَّاسِ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ يَوْمَ حُنَيْنٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ غَيْرَ أَنَّ حَدِيثَ يُونُسَ وَحَدِيثَ مَعْمَرٍ أَكْثَرُ مِنْهُ وَأَتَمُّ

د حضرت عباس نه روایت دے چه زهٔ د نبی ﷺ سره ووم د غزوه حُنین په ورځ. مخکښ د پورتنی حدیث پشان بیان کړو. او د یونس او د معمر راویانو روایتونه ډیر زیات او مکمل دی.

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلْبَرَاءِ يَا أَبَا عُمَارَةَ أَفَرَرْتُمْ يَوْمَ حُنَيْنٍ قَالَ لَا وَاللهِ مَا وَلّٰى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنَّهُ خَرَجَ شُبَّانُ أَصْحَابِهِ وَأَخِفَّاؤُهُمْ حُسَّرًا لَيْسَ عَلَيْهِمْ سِلَاحٌ أَوْ كَثِيرُ سِلَاحٍ فَلَقُوا قَوْمًا رُمَاةً لَا يَكَادُ يَسْقُطُ لَهُمْ سَهْمٌ جَمْعَ هَوَازِنَ وَبَنِي نَصْرٍ فَرَشَقُوهُمْ رَشْقًا مَا يَكَادُونَ يُخْطِئُونَ فَأَقْبَلُوا هُنَاكَ إِلٰى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَقُودُ بِهِ فَنَزَلَ فَاسْتَنْصَرَ وَقَالَ أَنَا

د ابو اسحٰق نه روایت دے وائی چه یو سړی براء بن عازب ته اووے اے ابو عماره تاسو د حنین په ورځ او تښتیدئ. هغوی اووے نه په الله قسم دے چه جناب رسول الله ﷺ ورته نهٔ ده شا کړے مگر د هغوی د صحابؤ نه ځو ځوانان تادی کونکی د چا سره چه وسله نۀوه. یا پوره وسله نۀ وه اووتل. د هغوی مقابله د داسے غشو ویشتونکو سره راغله چه د هغوی یو غشے خطا نۀ تلو. هغه خلق د هوازن او بنو نضر نه وو. عرض دا چه هغوی په یو ځائے د غشو داسے باران جوړ کړو چه یو غشے به خطا نۀ لګیدو هغه د جناب رسول الله ﷺ خواله راغے. حضرت په سپین قچر باندے سور وو نو د قچر نه راکوز شو. او د الله نه د مدد دعائے اوغوښته. حضرت ﷺ اوفرمائیل. أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ یعنی زهٔ نبی یم دا دروغ نهٔ دی زهٔ د

النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ ثُمَّ صَفَّهُمْ
عَنْ أَبِي إِسْحَقَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى الْبَرَاءِ فَقَالَ أَكُنْتُمْ وَلَّيْتُمْ يَوْمَ حُنَيْنٍ يَا أَبَا عُمَارَةَ فَقَالَ أَشْهَدُ عَلَى نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا وَلَّى وَلَكِنَّهُ انْطَلَقَ أَخِفَّاءُ مِنَ النَّاسِ وَحُسَّرٌ إِلَى هَذَا الْحَيِّ مِنْ هَوَازِنَ وَهُمْ قَوْمٌ رُمَاةٌ فَرَمَوْهُمْ بِرِشْقٍ مِنْ نَبْلٍ كَأَنَّهَا رِجْلٌ مِنْ جَرَادٍ فَانْكَشَفُوا فَأَقْبَلَ الْقَوْمُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ يَقُودُ بِهِ بَغْلَتَهُ فَنَزَلَ وَدَعَا وَاسْتَنْصَرَ وَهُوَ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ اللَّهُمَّ نَزِّلْ نَصْرَكَ قَالَ الْبَرَاءُ كُنَّا وَاللَّهِ إِذَا احْمَرَّ الْبَأْسُ نَتَّقِي بِهِ وَإِنَّ الشُّجَاعَ مِنَّا لَلَّذِي يُحَاذِي بِهِ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عَنْ أَبِي إِسْحَقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ مِنْ قَيْسٍ أَفَرَرْتُمْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ الْبَرَاءُ وَلَكِنْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَفِرَّ

عبد المطلب خوی يم بيا حضرت ﷺ صفونه اوتړل د خپلو خلقو[1].
د حضرت ابو اسحٰق نه روايت دے يو سړے د براء بن عازب رضی الله عنه خواله راغے او وے ويل د حنين په ورځ تاسو تختيدلی وئ؟ اے ابو عماره! هغوی اووے زهٔ ګواهی ورکوم په رسول الله ﷺ باندے چه حضرت ﷺ مخ نهٔ دے اړولے. ليکن څو تنه تادی کونکی خلق بے وسلے د هوازن د قبيلے په طرف لاړل هغه تير انداز وو هغوی يو باران اوکړو د غشو لکه د ملخانو سَيل. نو دا خلق د مخے نه لړے شو. نو د خلق د رسول الله ﷺ خواله راغے. ابوسفيان بن حارث د حضرت ﷺ قچر لره رابنکوده. حضرت ﷺ د قچر نه راکوز شو او دُعائے اوکړه او مدد ئے اوغوښتو او حضرت ﷺ فرمائيل. زهٔ نبی يم دا دروغ نهٔ دی زهٔ د عبد المطلب خوئے يم يا الله خپل مدد رااوليږه. براء وائی قسم دے په الله باندے چه هر کله خونخوار جنګ انخو نو مونږ به خپل خان بچ کوو د حضرت ﷺ په خواه کښ. او بهادر په مونږ کښ هغه و چه مخامخ به ورتلو په جنګ کښ يعنی رسول الله ﷺ.
د حضرت ابو اسحٰق نه روايت دے وائی چه ما اوريدلی دی د براء نه د هغوی نه د قيس يو سړی تپوس اوکړو آيا تاسو تختيدلی وئ د حنين په ورځ او رسول الله ﷺ مو يوائے پريخودے وو. براء اووے خو رسول الله ﷺ نه وو تختيدلے. داسے اوشوه چه د هوازن قبيلے خلق په

[1] نووی رحمه الله وئيلی دی دا د موزون رجز دے مګر هر موزون ته شعر نهٔ شی وئيلے د کومے پورے چه د هغے د ويونکی اراده د شعر نه وی او ددے دپاره ځنے موزون فقرے په قرآن مجيد کښ موجود دی لکه لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا يا نَصْرٌ مِنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ يا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ. حالانکه دا شعر نهٔ دی. او حضرت ﷺ خپل خان ته د عبد المطلب خوئ اووے ځکه چه عبد المطلب مشهور سړے وو او عربو به حضرت ﷺ ته د هغهٔ خوئ وئيلو. ددے حديث نه دا معلومه شوه چه په جنګ کښ داسے وئيل صحيح دی لکه چه سلمه وئيلی دی. آنا بْنُ الْأَكْوَعِ او حضرت علی کرم الله وجهه وئيلی دی آنَا الَّذِی سَمَّتْنِی أُمِّی حَيْدَرَهْ. او بغير د جنګ نه په طور د فخر وئيل منع دی. (انتهی مختصراً)

وَكَانَتْ هَوَازِنُ يَوْمَئِذٍ رُمَاةً وَإِنَّا لَمَّا حَمَلْنَا عَلَيْهِمُ انْكَشَفُوا فَأَكْبَبْنَا عَلَى الْغَنَائِمِ فَاسْتَقْبَلُونَا بِالسِّهَامِ وَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَإِنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ الْحَارِثِ آخِذٌ بِلِجَامِهَا وَهُوَ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ

دغه ورځو تير انداز وو. او مونږ چه هر کله په هغوی حمله اوکړه نو هغوی اوتختيدل او مونږ د لوټ په مال باندے راښکته شو. نو هغوی غشی اوچلول ما رسول الله ﷺ لره اوليدهٔ پخپله سپينه قچره باندے او ابوسفيان بن حارث د هغے واګے نيولے وے او حضرت ﷺ دا فرمائيل زهٔ نبی يم څهٔ دروغ نهٔ دی او زهٔ خوئے يم د عبد المطلب

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا أَبَا عُمَارَةَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ وَهُوَ أَقَلُّ مِنْ حَدِيثِهِمْ وَهَؤُلَاءِ أَتَمُّ حَدِيثًا

د براء رضی الله عنه نه روايت دے چه دوی ته يو سړی اووے يا ابوعماره. وړاندے د مخکښنی حديث پشان ئے روايت کړو.

عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا فَلَمَّا وَاجَهْنَا الْعَدُوَّ تَقَدَّمْتُ فَأَعْلُو ثَنِيَّةً فَاسْتَقْبَلَنِي رَجُلٌ مِنَ الْعَدُوِّ فَأَرْمِيهِ بِسَهْمٍ فَتَوَارَى عَنِّي فَمَا دَرَيْتُ مَا صَنَعَ وَنَظَرْتُ إِلَى الْقَوْمِ فَإِذَا هُمْ قَدْ طَلَعُوا مِنْ ثَنِيَّةٍ أُخْرَى فَالْتَقَوْا هُمْ وَصَحَابَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَلَّى صَحَابَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَرْجِعُ مُنْهَزِمًا وَعَلَيَّ بُرْدَتَانِ مُتَّزِرًا بِإِحْدَاهُمَا مُرْتَدِيًا بِالْأُخْرَى فَاسْتَطْلَقَ إِزَارِي فَجَمَعْتُهُمَا جَمِيعًا وَمَرَرْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْهَزِمًا وَهُوَ عَلَى بَغْلَتِهِ الشَّهْبَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ رَأَى ابْنُ الْأَكْوَعِ فَزَعًا فَلَمَّا غَشُوا رَسُولَ اللهِ ﷺ نَزَلَ عَنِ الْبَغْلَةِ ثُمَّ قَبَضَ

د اياس بن سلمه نه روايت دے وائی چه خما پلار سلمه بن اکوع رضی الله عنه ما ته بيان کړے دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د حنين جهاد کولو. هر کله چه د دشمن سره مخامخ شو نو زهٔ مخکښې شوم او يو کنډؤ ته اوختم. يو سړے د دشمنانو نه خما مخے له راغے ما په يو غشی اوويشتو پس هغه غائب شو خما نه. معلومه نهٔ ده چه څهٔ شو. ما چه خلقو ته اوکتل نو په دويم کنډؤ کښې ښکاره شو. او د دوی او د نبی ﷺ د صحابؤ جنګ شروع شو. ليکن صحابو رضی الله عنهم شکست اوخوړو او ما هم شکست اوخوړو او واپس شوم. او ما دوه څادرے اغوستے وے يو مے ترلے وو او بل مے پسر کړے وو. خما لنګ کھولاؤ شو نو ما دواړو څادرونو لره يو ځائے کړل او شکست موندلے د رسول الله ﷺ په مخکښې تير شومه. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه د اکوع خوئے اويريدهٔ واپس شو. بيا دشمنان د رسول الله ﷺ نه چاپيره شو. حضرت ﷺ د قچر نه کوز شو او يو موټے خاورے ئے د زمکے نه رااوچتے کړے او د هغوی په مخ ئے اوويشتے او اوئے فرمائيل وران

قَبْضَةً مِنْ تُرَابٍ مِنَ الْأَرْضِ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ بِهِ وُجُوهَهُمْ فَقَالَ شَاهَتِ الْوُجُوهُ فَمَا خَلَقَ اللهُ مِنْهُمْ إِنْسَانًا إِلاَّ مَلَأَ عَيْنَيْهِ تُرَابًا بِتِلْكَ الْقَبْضَةِ فَوَلَّوْا مُدْبِرِينَ فَهَزَمَهُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَقَسَمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ غَنَائِمَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ

شو مخونه ددوی بیا یو سرے په هغوی کښ داسے نهٔ وو چه د هغوی سترګے د خاورو نه ډکے شوے نهٔ وے. د هغه یو موټی خاورو د وجے نه آخر هغوی اوتختیدل او الله تعالی هغوی له شکست ورکړو او رسول الله ﷺ د هغوی مال په مسلمانانو باندے تقسیم کړو[1].

بَابُ غَزْوَةِ الطَّائِفِ

باب : د طائف د جنګ بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ حَاصَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ الطَّائِفِ فَلَمْ يَنَلْ مِنْهُمْ شَيْئًا فَقَالَ إِنَّا قَافِلُونَ إِنْ شَاءَ اللهُ قَالَ أَصْحَابُهُ نَرْجِعُ وَلَمْ نَفْتَتِحْهُ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اغْدُوا عَلَى الْقِتَالِ فَغَدَوْا عَلَيْهِ فَأَصَابَهُمْ جِرَاحٌ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا قَافِلُونَ غَدًا قَالَ فَأَعْجَبَهُمْ ذَلِكَ فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے (او په بعضو نسخو کښ عبدالله بن عمرو دے چه د عاص خوئ دے) وائی چه رسول الله ﷺ د طائف والاؤ نه محاصره اوکړه او د هغوی نه ئے څۀ حاصل نهٔ کړل نو حضرت ﷺ اوفرمائیل مونږ به واپس لاړ شو کهٔ الله غواړی. د هغوی صحابؤ اووے بغیر د فتح نه به مونږ واپس ځو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل . ښه ده سحر له اوجنګیږئ. پس اوجنګیدل او زخمی شول. حضرت ﷺ اوفرمائیل مونږ به صباله واپس ځو. دا هغوی ته غوره معلومه شوه نو حضرت ﷺ اوخندل[2].

بَابُ غَزْوَةِ بَدْرٍ

باب : د بدر د جنګ بیان

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاوَرَ حِينَ بَلَغَهُ إِقْبَالُ أَبِي سُفْيَانَ قَالَ فَتَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ تَكَلَّمَ عُمَرُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ

د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مشوره اوکړه هر کله چه حضرت ﷺ ته د ابوسفیان د راتلو خبر اورسیدهٔ. نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه خبرے اوکړے. حضرت ﷺ جواب ورنهٔ کړو. بیا حضرت عمر رضی الله عنه خبرے اوکړے. بیا هم حضرت ﷺ مخاطب نهٔ شو. آخر سعد بن عباده رضی الله عنه (د

---

[1] . هم دغے ته الله تعالی فرمائی وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللهَ رَمَىٰ یعنی تا دا خاورے نهٔ دی غورځولے بلکه الله تعالی غورځولی دی خکه چه دا معجزه ده او معجزه د الله فعل دے چه د نبی ﷺ په لاسونو ئے ظاهره وی.

[2] چه پرون خو په واپس تلو باندے راضی نهٔ وو. او په جنګ باندے مستعد وو. هر کله چه زخمی شول نو واپس تلل ئے غوره اوګنړل او دومره زر ئے رائے بدل شوه.

عُبَادَةَ فَقَالَ إِيَّانَا تُرِيدُ يَا رَسُولَ اللهِ
وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ
نُخِيضَهَا الْبَحْرَ لَأَخَضْنَاهَا وَلَوْ أَمَرْتَنَا
أَنْ نَضْرِبَ أَكْبَادَهَا إِلَى بَرْكِ الْغِمَادِ
لَفَعَلْنَا قَالَ فَنَدَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ فَانْطَلَقُوا حَتَّى نَزَلُوا
بَدْرًا وَوَرَدَتْ عَلَيْهِمْ رَوَايَا قُرَيْشٍ وَفِيهِمْ
غُلَامٌ أَسْوَدُ لِبَنِي الْحَجَّاجِ فَأَخَذُوهُ فَكَانَ
أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَهُ عَنْ أَبِي سُفْيَانَ
وَأَصْحَابِهِ فَيَقُولُ مَا لِي عِلْمٌ بِأَبِي سُفْيَانَ
وَلَكِنْ هَذَا أَبُو جَهْلٍ وَعُتْبَةُ وَشَيْبَةُ
وَأُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ فَإِذَا قَالَ ذَلِكَ ضَرَبُوهُ
فَقَالَ نَعَمْ أَنَا أُخْبِرُكُمْ هَذَا أَبُو سُفْيَانَ
فَإِذَا تَرَكُوهُ فَسَأَلُوهُ فَقَالَ مَا لِي بِأَبِي
سُفْيَانَ عِلْمٌ وَلَكِنْ هَذَا أَبُو جَهْلٍ وَعُتْبَةُ
وَشَيْبَةُ وَأُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ فِي النَّاسِ فَإِذَا
قَالَ هَذَا أَيْضًا ضَرَبُوهُ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ يُصَلِّي فَلَمَّا رَأَى
ذَلِكَ انْصَرَفَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ
لَتَضْرِبُوهُ إِذَا صَدَقَكُمْ وَتَتْرُكُوهُ إِذَا كَذَبَكُمْ
قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ قَالَ وَيَضَعُ يَدَهُ

انصارو مشر پاځیدهٔ) او عرض ئے اوکړو تاسو زمونږ نه تپوس کوئ یا رسول اللهؐ! قسم مے دِ وی په هغه ذات د چا په لاس کښ چه خما روح دے کچرے تاسو مونږ ته حکم اوکړئ چه خپل اسونه سمندر ته اوغورځوئ نو مونږ به ئے خامخا غورځوؤ. کچرے تاسو مونږ ته حکم اوکړئ چه خپل اسونه اوزغلوئ د برك الغماد پورے (چه د مکے نه لرے یو مقام دے) البته مونږ به خامخا اوزغلوؤ. (یعنی مونږ په هره طریقه ستا د حکم تابعدار یو. ځکه مونږ ستاسو سره دا وعده نهٔ ده کړے. آفرین دِ وی د انصارو په قربانئ باندے) نو رسول اللهﷺ خلق رااوغوښتل او لاړو. تردے پورے چه په بدر کښ کوز شو هلته د قریشو اوبو څښلو والامیلاؤ شو په هغے کښ یو تور غلام د بنی حجاج هم وو. صحابؤ هغه اونیؤ او د هغهٔ نه ئے د ابوسفیان او د هغه د ملګرو د حال تپوس کولو. هغه وئیلو چه ما ته د ابوسفیان حال معلوم نهٔ دے البته ابوجهل او عتبه او شیبه او اُمیه بن خلف خو دا موجود دی هر کله چه به هغهٔ دا وئیل نو بیا به ئے هغه وهلو او هر کله چه به هغهٔ دا اووے چه ښه ښه د ابوسفیان حال درته وایم نو بیا به ئے پریخودو. بیا چه به ئے ترینه تپوس اوکړو هغهٔ به بیا اووے زهٔ د ابوسفیان د حال نه خبر نهٔ یم البته ابوجهل او عتبه او شیبه او امیه بن خلف خو په خلقو کښ موجود دی بیائے هغهٔ لره وهلو. او جناب رسول خداﷺ مونځ کولو کله چه ئے دا اولیدل نو د مانځهٔ نه فارغ شو نو اوئے فرمائیل. قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس کښ ځما روح دے هر کله چه هغه تاسو ته رښتیا وائی نو تاسو هغهٔ لره وهئ او کله چه دروغ وائی نو تاسو ئے پریږدئ (دا یوه معجزه شوه د حضرتﷺ) بیا حضرتﷺ اوفرمائیل دا د فلانی کافر د مړ کیدو ځائے دے او لاس ئے په زمکه باندے کینبودهٔ دا ځائے (

عَلَى الْأَرْضِ هَاهُنَا هَاهُنَا قَالَ فَمَا مَاطَ أَحَدُهُمْ عَنْ مَوْضِعِ يَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بَابُ فَتْحِ مَكَّةَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ وَفَدَتْ وُفُودٌ إِلَى مُعَاوِيَةَ وَذٰلِكَ فِي رَمَضَانَ فَكَانَ يَصْنَعُ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ الطَّعَامَ فَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَدْعُونَا إِلَى رَحْلِهِ فَقُلْتُ أَلَا أَصْنَعُ طَعَامًا فَأَدْعُوَهُمْ إِلَى رَحْلِي فَأَمَرْتُ بِطَعَامٍ يُصْنَعُ ثُمَّ لَقِيتُ أَبَا هُرَيْرَةَ مِنَ الْعَشِيِّ فَقُلْتُ الدَّعْوَةُ عِنْدِي اللَّيْلَةَ فَقَالَ سَبَقْتَنِي قُلْتُ نَعَمْ فَدَعَوْتُهُمْ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَلَا أُعْلِمُكُمْ بِحَدِيثٍ مِنْ حَدِيثِكُمْ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ ثُمَّ ذَكَرَ فَتْحَ مَكَّةَ فَقَالَ أَقْبَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ فَبَعَثَ الزُّبَيْرَ عَلَى إِحْدَى الْمُجَنِّبَتَيْنِ وَبَعَثَ خَالِدًا عَلَى الْمُجَنِّبَةِ الْأُخْرَى وَبَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ عَلَى الْحُسَّرِ فَأَخَذُوا بَطْنَ الْوَادِي وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كَتِيبَةٍ قَالَ فَنَظَرَ فَرَآنِي فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ لَا يَأْتِينِي إِلَّا أَنْصَارِيٌّ زَادَ غَيْرُ

او دا فلانی د غورځېدو ځائے دے، راوی وائی بیا چه په کوم ځائے حضرت ﷺ لاس ایخودے وو د هغے نه لږ شان هم فرق نه وو راغلے. او هریو کافر هم په هغه ځائے باندے غورځېدو. دا دویمه معجزه شوه.

باب: د مکے د فتح کیدو بیان

د حضرت ابوهریرة رض نه روایت دے څو جماعتونو سفر اوکړو د معاویه رض خواله لاړو. د رمضان شریف په میاشت کښې. عبد الله بن رباح وائی (چه د ابوهریرة رض نه روایت کوی دے حدیث لره) په مونږ کښې به یو د بل دپاره غله تیاروله نو ابوهریرة رض به اکثر مونږ رااوغوښتو خپل ځائے ته یوه ورځ ما اووے. زۀ هم غله تیاروم او ټول به خپل ځائے ته راغواړم. نو ما د غلے حکم ورکړو او ماښام ته د ابوهریرة رض سره میلاؤ شوم. او ورته مے اووے نن شپه به ځما سره میلمستیا وی. حضرت ابوهریرة رض اووے. تا ځما نه مخکښې اووے (یعنی نن زۀ دعوت کولو والا وم) ما اووے آو. بیا ما هغوی ټول رااوغوښتل. حضرت ابوهریرة رض اووے اے د انصارو جماعته! زۀ ستاسو په باب کښې یو حدیث بیانوم. بیا هغوی د فتح مکے ذکر اوکړو. ددے نه پس ئے اووے رسول الله ﷺ راغے تردے پورے چه په مکه کښې داخل شو نو په یو طرف باندے زبیر لره اولیږو او په بل طرف باندے ئے خالد بن ولید اولیږو (یعنی یو ئے په میمنه کړو او بل ئے په میسره) او ابوعبیده ابن الجراح رض لره ئے ددغه خلقو سردار مقرر کړو. د چا سره چه زغرے نه وے هغه د کنډؤ په دننه طرف لاړو. او رسول الله ﷺ په یوه ټکړه کښې وو. حضرت ﷺ چه زۀ اولیدم نو اوئے فرمائیل. ابوهریره! ما اووے حاضر یم یا رسول الله ﷺ! حضرت ﷺ اوفرمائیل. نه راځی ځما خواله مګر انصار. او اوئے فرمائیل انصارو ته آواز اوکړو ځما دپاره ولے چه د حضرت ﷺ په انصارو باندے ډیر

شَيْبَانَ فَقَالَ اهْتِفْ لِي بِالْأَنْصَارِ قَالَ فَأَطَافُوا بِهِ وَوَبَّشَتْ قُرَيْشٌ أَوْبَاشًا لَهَا وَأَتْبَاعًا فَقَالُوا نُقَدِّمُ هَؤُلَاءِ فَإِنْ كَانَ لَهُمْ شَيْءٌ كُنَّا مَعَهُمْ وَإِنْ أُصِيبُوا أَعْطَيْنَا الَّذِي سُئِلْنَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَوْنَ إِلَى أَوْبَاشِ قُرَيْشٍ وَأَتْبَاعِهِمْ ثُمَّ قَالَ بِيَدَيْهِ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى ثُمَّ قَالَ حَتَّى تُوَافُونِي بِالصَّفَا قَالَ فَانْطَلَقْنَا فَمَا شَاءَ أَحَدٌ مِنَّا أَنْ يَقْتُلَ أَحَدًا إِلَّا قَتَلَهُ وَمَا أَحَدٌ مِنْهُمْ يُوَجِّهُ إِلَيْنَا شَيْئًا قَالَ فَجَاءَ أَبُو سُفْيَانَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أُبِيحَتْ خَضْرَاءُ قُرَيْشٍ لَا قُرَيْشَ بَعْدَ الْيَوْمِ ثُمَّ قَالَ مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ فَقَالَتِ الْأَنْصَارُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ أَمَّا الرَّجُلُ فَأَدْرَكَتْهُ رَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ وَرَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَجَاءَ الْوَحْيُ وَكَانَ إِذَا جَاءَ الْوَحْيُ لَا يَخْفَى عَلَيْنَا فَإِذَا جَاءَ فَلَيْسَ أَحَدٌ يَرْفَعُ طَرْفَهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى يَنْقَضِيَ الْوَحْيُ فَلَمَّا انْقَضَى الْوَحْيُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالُوا لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ

اعتماد وو. او هغوی ته د مکے والاؤ نه هیڅ غرض هم نهٔ وو. حضرت ﷺ د هغوی په خواه کښې ساتل مناسب ګنړل بیا هغوی ټول د حضرت نه چاپیره شول. او قریشو هم خپل جماعت او تابعدار جمع کړل او اوئے وئیل مونږ دوی لره مخکښې کوو. کچرے څهٔ میلاؤ شو نو مونږ هم د دوی سره یو. او که آفت راشی نو ورکوؤ به ئے مونږ څهٔ چه غوښتلے شی. حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو وینئ د قریشو جماعتونو او تابعدارو لره. بیا حضرت ﷺ د یو لاس نه په بل لاس باندے اوښودل (یعنی اووژنئ د مکے کافرانو لره او ددوی نه یو هم پرینږدئ) او اوئے فرمائیل تاسو میلاویږئ ماسره په صفا باندے. حضرت ابوهریرهؓ وائی بیا مونږ روان شو چا چه به زمونږ نه چا لره وژل غوښتل هغه به ئے وژل او هیچا زمونږ مقابله نهٔ کوله تردے پورے چه ابوسفیان راغے او اوئے وئیل یا رسول اللهؐ! د قریشو جماعت تباه شو اوس به د نن نه پس قریش نهٔ وی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل کوم سړے چه د ابوسفیان کور ته داخل شو هغه په امن دے (دا حضرت ﷺ د ابوسفیان په درخواست باندے هغهٔ له د عزت ورکولو دپاره اوفرمائیل) انصارو د یو بل سره اووے چه دهٔ ته (یعنی رسول الله ﷺ ته) د خپل وطن محبت راغے او په خپل خاندان والاؤ باندے ئے مینه راغله ابوهریرهؓ وائی وحی نازیدل شروع شو هر کله چه به وحی راتلل شروع شو نو مونږ ته به معلومه شوه. هر کله چه به وحی نازلیده نو چا به خپلے سترګے د حضرت ﷺ په طرف نهٔ اوچتولے. تردے پورے چه وحی به ختمه شوه. غرض دا چه هر کله وحی ختمه شوه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے د انصارو ټولیه هغوی اووے حاضر یو یا رسول اللهؐ حضرت ﷺ اوفرمائیل (دا معجزه ده) تاسو دا اووے چه دے سړی ته د خپل کلی محبت راغے. هغوی اووے بیشکه دا خو مونږ

قُلْتُمْ أَمَّا الرَّجُلُ فَأَدْرَكَتْهُ رَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ قَالُوا قَدْ كَانَ ذَاكَ قَالَ كَلَّا إِنِّي عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ هَاجَرْتُ إِلَى اللهِ وَإِلَيْكُمْ وَالْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ وَالْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَبْكُونَ وَيَقُولُونَ وَاللهِ مَا قُلْنَا الَّذِي قُلْنَا إِلَّا الضِّنَّ بِاللهِ وَبِرَسُولِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ وَرَسُولَهُ يُصَدِّقَانِكُمْ وَيَعْذِرَانِكُمْ قَالَ فَأَقْبَلَ النَّاسُ إِلَى دَارِ أَبِي سُفْيَانَ وَأَغْلَقَ النَّاسُ أَبْوَابَهُمْ قَالَ وَأَقْبَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَقْبَلَ إِلَى الْحَجَرِ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ قَالَ فَأَتَى عَلَى صَنَمٍ إِلَى جَنْبِ الْبَيْتِ كَانُوا يَعْبُدُونَهُ قَالَ وَفِي يَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْسٌ وَهُوَ آخِذٌ بِسِيَةِ الْقَوْسِ فَلَمَّا أَتَى عَلَى الصَّنَمِ جَعَلَ يَطْعُنُهُ فِي عَيْنِهِ وَيَقُولُ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ طَوَافِهِ أَتَى الصَّفَا فَعَلَا عَلَيْهِ حَتَّى نَظَرَ إِلَى الْبَيْتِ وَرَفَعَ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَحْمَدُ اللهَ وَيَدْعُو بِمَا شَاءَ أَنْ يَدْعُوَ

وئیلی دی حضرت ﷺ اوفرمائیل هیڅ کله نه زۀ د الله بنده یم او د هغهٔ رسول یم (او څهٔ چه تاسو اووے هغه ما ته په وحی سره معلوم شو. خو ما هم د دغه الله خاص بنده اوګنړئ (نصاراو چه څنګه عیسیٰ علیه السلام ته لوئی ورکړے داسے ما ته را نهٔ کړئ) هجرت مے کړے د الله په طرف او ستاسو په طرف اوس ځما ژوند او مرګ ستاسو سره دے. دد ے په اوریدو انصارو په ژړا منډے کړے او اوئے وئیل قسم په خدائے مونږ چه څهٔ وئیلی دی صرف الله ته او د هغهٔ رسول ته مو حرص کړے دے (یعنی زمونږ مطلب دا وو چه تاسو زمونږ ملګرتیا پرینږدئ او زمونږ په ښار کښې پاتے شئ) رسول الله ﷺ اوفرمائیل .بیشکه الله او رسول د هغهٔ تصدیق کوی ستاسو او ستاسو عذر قبلوی بیا خلق د ابوسفیان کور ته لاړل (د خان بچ کولو د پاره) او خلقو دروازے بندے کړے. او رسول الله ﷺ د حَجَر اسود خواله تشریف راوړو او ښکل ئے کړو بیائے د خانه کعبے طواف اوکړو (اګر چه حضرت ﷺ په احرام کښې نهٔ وو ولے چه د هغوی په سر باندے د اوسپنے توپئ وه) بیا د یو بت خواله راغے کوم چه د کعبے په طرف ئے ایخودے وو هغے ته به خلقو سجده کوله د حضرت ﷺ په لاس کښې لینده وه. حضرت ﷺ هغے لره د سر نه نیولی وه. هر کله چه د بت خواله راغے نو د هغهٔ سترګه ئے راکنستله او فرمائیل ئے حق راغے او باطل ختم شو. هر کله چه د طواف نه فارغ شو نو د صفا په غر باندے راغے او هغے ته اوختو تر دے پورے چه کعبه ته ئے اولیدل او دواړه لاسونه ئے اوچت کړل او د الله تعالیٰ حمدوثنا او دعائے شروع کړه. کومه دُعا چه حضرت ﷺ غوښتله[1]

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي

د سلمان بن مغیره نه په دے اسناد سره روایت دے. او په دے کښې

[1] ددے دپاره چه وطن جوړ کړم مدینے لره اوس دا مڼ ګنړئ چه زۀ به هجرت فسخ کوم او بیا به مکه کښې اوسیدل اختیاروم.

الْحَدِيثَ ثُمَّ قَالَ بِيَدَيْهِ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى احْصُدُوهُمْ حَصْدًا وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ قَالُوا قُلْنَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَمَا اسْمِي إِذًا كَلَّا إِنِّي عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ

دا زياته ده چه رسول الله ﷺ يو لاس په بل لاس باندے كيښودو او اوئے ښودله چه بالكل دوى لره كاټ كړئ.[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ رَبَاحٍ قَالَ وَفَدْنَا إِلَى مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ وَفِينَا أَبُو هُرَيْرَةَ فَكَانَ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا يَصْنَعُ طَعَامًا يَوْمًا لِأَصْحَابِهِ فَكَانَتْ نَوْبَتِي فَقُلْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ الْيَوْمَ نَوْبَتِي فَجَاءُوا إِلَى الْمَنْزِلِ وَلَمْ يُدْرِكْ طَعَامُنَا فَقُلْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ لَوْ حَدَّثْتَنَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى يُدْرِكَ طَعَامُنَا فَقَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَجَعَلَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ عَلَى الْمُجَنِّبَةِ الْيُمْنَى وَجَعَلَ الزُّبَيْرَ عَلَى الْمُجَنِّبَةِ الْيُسْرَى وَجَعَلَ أَبَا عُبَيْدَةَ عَلَى الْبَيَاذِقَةِ وَبَطْنِ الْوَادِي فَقَالَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ادْعُ لِي الْأَنْصَارَ فَدَعَوْتُهُمْ فَجَاءُوا يُهَرْوِلُونَ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ هَلْ تَرَوْنَ أَوْبَاشَ قُرَيْشٍ قَالُوا نَعَمْ قَالَ انْظُرُوا إِذَا لَقِيتُمُوهُمْ غَدًا أَنْ تَحْصُدُوهُمْ حَصْدًا وَأَخْفَى بِيَدِهِ وَوَضَعَ يَمِينَهُ عَلَى شِمَالِهِ وَقَالَ مَوْعِدُكُمُ الصَّفَا قَالَ

د عبد الله بن رباح نه روايت دے مونږ سفر اوكړو د معاويه بن ابى سفيان خواله لاړو. او په مونږ كښې ابوهريره هم وو. نو په مونږ كښې به يوه يوه ورځ هر يو سړى غله تياروله د خپلو ملګرو دپاره. يوه ورځ خما نمبر راغے ما اووے اے ابوهريره نن خما نمبر دے. هغوى تول خما خائے ته راغلل. او لاتر اوسه غله تياره شوے نه وه. ما اووے اے ابوهريره كاش ته مونږ ته يو حديث بيان كړے د رسول الله ﷺ او د هغے پورى به روټئ تياره شى. هغوى اووے مونږ د رسول الله ﷺ سره وو په كومه ورځ چه مكه فتح شوه. نو حضرت ﷺ خالد بن وليد لره په ښى طرف باندے سردار مقرر كړو او زبير لره ئے په ګس طرف باندے او ابوعبيده لره ئے د پياده خلقو سردار مقرر كړو. او هغوى ته ئے په ځنګل كښې دننه د تلو اووے. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل اے ابوهريره انصار رااوغواره. ما هغوى ته آواز اوكړو. هغوى په منډه راغلل. حضرت ﷺ اوفرمائيل اے د انصارو خلقو! تاسو اوليدل د قريشو بدمعاشانو لره هغوى اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائيل صبا چه هر كله د دوى سره ميلاؤشئ نو دوى صفا كړئ. او حضرت ﷺ په لاس سره صفا كول اوښودل او ښئ

---

[1] يعنى چه څوك مخے له راځى هغه وژنئ ددے دپاره چه د كفر زور ختم شى. خو څوك چه د ابوسفيان كور ته لاړ شى يا وسله اوغورځوى هغوى ته ئے امن وركړو ددے نه معلومه شوه چه مكه معظمه په زور د تورے فتح شوه. او دغه قول دے د مالك او ابوحنيفه او احمد او جمهور علماء اهل سير. او د شافعى په نز په صلحه سره فتح شوے ده. او مازرى ونيلى دى چه دا صرف د شافعى قول دے. (نووى)

فَمَا أَشْرَفَ يَوْمَئِذٍ لَهُمْ أَحَدٌ إِلاَّ أَنَامُوهُ قَالَ وَصَعِدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفَا وَجَاءَتِ الأَنْصَارُ فَأَطَافُوا بِالصَّفَا فَجَاءَ أَبُو سُفْيَانَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أُبِيدَتْ خَضْرَاءُ قُرَيْشٍ لاَ قُرَيْشَ بَعْدَ الْيَوْمِ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ وَمَنْ أَلْقَى السِّلاَحَ فَهُوَ آمِنٌ وَمَنْ أَغْلَقَ بَابَهُ فَهُوَ آمِنٌ فَقَالَتِ الأَنْصَارُ أَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ أَخَذَتْهُ رَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ وَرَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ وَنَزَلَ الْوَحْىُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُمْ أَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ أَخَذَتْهُ رَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ وَرَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ أَلاَ فَمَا اسْمِي إِذًا ثَلاَثَ مَرَّاتٍ أَنَا مُحَمَّدٌ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ هَاجَرْتُ إِلَى اللَّهِ وَإِلَيْكُمْ فَالْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ وَالْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ قَالُوا وَاللَّهِ مَا قُلْنَا إِلاَّ ضِنًّا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ قَالَ فَإِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُصَدِّقَانِكُمْ وَيَعْذِرَانِكُمْ

لاس ئے په کس لاس باندے کینبودو او اوئے فرمائیل تاسو څما سره په صفا غر باندے میلاؤ شئ. حضرت ابوهریرهؓ وائي په دغه ورخ چه به څوك ليدے شو هغوى به هغهٔ لره اوده کولو (یعنی وژلو) او رسول اللهﷺ صفا غر ته اوختو او انصار راغلل او چاپیره شو د صفا نه. په دے کښ ابوسفیان راغے او اوئے وئیل یا رسول اللهﷺ د قریشو بوټی لرے شو د نن نه روستو به قریش نهٔ وی. رسول اللهﷺ اوفرمائیل څوک چه د ابوسفیان کورته ننوتو هغه په امن دے. او چا چه وسله اوغورځوله هغهٔ ته هم امن دے. او چا چه خپله دروازه بنده کړه هغهٔ لره هم امن دے. انصارو اووے دوی ته د خپلو خپلوانو محبت راغلے او د خپل ښار سره ئے مینه پیدا شوے ده. پس وحی نازله شوه او رسول اللهﷺ اوفرمائیل تاسو ته پته ده څما نوم څهٔ دے؟ درے ځله ئے اوفرمائیل محمد یم د الله تعالی بنده او د هغهٔ رسول یم. ما وطن پریخودے دے د الله تعالی په طرف او ستاسو په طرف نو اوس خو مے ژوند او مرګ دواړه ستاسو د ژوند او مرګ سره دی. انصارو اووے قسم په خدائے مونږ داسے نهٔ دی وئیلی مګر د حرص نه د الله او د هغهٔ د رسولؐ سره حضرتﷺ اوفرمائیل نو الله او د هغهٔ رسول دواړه تاسو لره رښتونی ګڼړی او ستاسو عذر قبلوی.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ وَحَوْلَ الْكَعْبَةِ ثَلاَثُ مِائَةٍ وَسِتُّونَ نُصُبًا فَجَعَلَ يَطْعُنُهَا بِعُودٍ كَانَ بِيَدِهِ وَيَقُولُ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ زَادَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ يَوْمَ

د عبداللهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ چه په کومه ورخ مکه فتح کړه مکے ته تشریف ویوړو. هلته د کعبے نه چاپیره درے سوه شپیتهٔ بتان وو. حضرتﷺ به هر یو له دیکه ورکوله په چوکه سره چه د حضرتﷺ په لاس کښں وه. هغه به پریوتهٔ لکه چه په بل روایت کښں دی، او اوئے فرمائیل حق راغے باطل ختم شو باطل ختمیدونکے دے حق راغے او دروغ ختم شو دروغ ختمیدونکی دی. حق راغے او باطل نهٔ

الْفَتْحِ

عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ إِلَى قَوْلِهِ زَهُوقًا وَلَمْ يَذْكُرِ الْآيَةَ الْأُخْرَى وَقَالَ بَدَلَ نُصُبًا صَنَمًا

جوړوي چا لره نه واپس کوي (بلکه دواړه د الله کار ونه دي)

د ابن ابی نجیح نه په دے اسناد سره روایت دے او په دے کښې صرف رومبی ایت دے زَهُوقًا پورے. دویم ایت نشته او د نُصُبًا په ځائے صَنَمًا دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُطِيعٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ لَا يُقْتَلُ قُرَشِيٌّ صَبْرًا بَعْدَ هٰذَا الْيَوْمِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د عبد الله بن مطیع نه روایت دے. هغوی اوریدلی دی د خپل پلار مطیع بن اسود نه هغوی وائی ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه په کومه ورځ چه مکه فتح شوه حضرت ﷺ فرمائیلی وو د نن نه پس به یو قریشی سړے تړلے نه شی قتلولے د قیامته پورے[1].

عَنْ زَكَرِيَّا بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ قَالَ وَلَمْ يَكُنْ أَسْلَمَ أَحَدٌ مِنْ عُصَاةِ قُرَيْشٍ غَيْرُ مُطِيعٍ كَانَ اسْمُهُ الْعَاصِي فَسَمَّاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُطِيعًا

د زکریا نه په دے اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے. دومره زیاته ده چه په دغه ورځ د کومو خلقو عاص نومونه و د قریشو د خلقو نه یو هم په هغوی کښې مسلمان نه شو سوا د عاص بن اسود نه حضرت ﷺ د هغهٔ نوم بدل کړو او مطیع نوم ئے ورله کیښودهٔ[2].

بَابُ صُلْحِ الْحُدَيْبِيَةِ

باب: په حدیبیه کښې کومه صلح اوشوه د هغے بیان

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ يَقُولُ كَتَبَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ الصُّلْحَ بَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ

د براء بن عازب نه روایت دے وائی حضرت علی هغه صلح نامه لیکلے وه کومه چه د رسول الله ﷺ او د مشرکانو په مینځ کښې شوے وه په ورځ د حدیبیه باندے. په هغے کښې دا عبارت وو دا هغه دے چه

[1] نووی وائی دد ے نه دا مطلب دے چه قریش به مسلمانان کیږی او د هغوی نه به یو د اسلام نه نهٔ اوړی. او د کفر په وجه به تړلے نهٔ شی وژلے او هسے په ظلم سره وژل نور دی. او کوم ظلم چه د حضرت ﷺ نه پس په قریشو باندے کیدلو هغه مشهور دے) په تحفة الاخیار کښې دی چه ابن خطل یو کافر وو حضرت ﷺ ته هغهٔ ډیر تکلیف رسولے وو. د مکے د فتح په ورځ چا حضرت ﷺ ته اووے چه ابن خطل د کعبے په پردو کښې پټ شوے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه اونیسئ راولئ. خلقو هغهٔ د لاسونو او خپو نه اوتړو او حاضر ئے کړو او بیا هغه قتل کړے شو. پس حضرت ﷺ دا حدیث اوفرمائیلو.

[2] خکه چه د عاص لفظی معنی نافرمانه ده. او دا بد معلوم شو حضرت ﷺ ته او حضرت ﷺ بدل کړو. نووی ونیلی دی چه عاص نور هم وو لکه عاص بن وائل سهمی او عاص بن هشام او عاص بن منبه خو یو هم د دوی نه په دغه ورځ مسلمان نه شو. البته یو عاص بل مسلمان شوے وو ابوجندل سهل بن عمرو خو کیدے شی د راوی په هغهٔ خیال نهٔ وی راغلے خکه چه هغه په کنیت سره زیات مشهور وو.

الْحُدَيْبِيَةِ فَكَتَبَ هٰذَا مَا كَاتَبَ عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ فَقَالُوا لَا تَكْتُبْ رَسُولَ اللّٰهِ فَلَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ لَمْ نُقَاتِلْكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ امْحُهُ فَقَالَ مَا أَنَا بِالَّذِي أَمْحَاهُ فَمَحَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ قَالَ وَكَانَ فِيمَا اشْتَرَطُوا أَنْ يَدْخُلُوا مَكَّةَ فَيُقِيمُوا بِهَا ثَلَاثًا وَلَا يَدْخُلَهَا بِسِلَاحٍ إِلَّا جُلُبَّانَ السِّلَاحِ قُلْتُ لِأَبِي إِسْحَقَ وَمَا جُلُبَّانُ السِّلَاحِ قَالَ الْقِرَابُ وَمَا فِيهِ

فیصله اوکړه محمدٌ د الله رسول (دد ے نه معلومه شوه چه په اقرار نامه او سندونو کښې اول داسے لیکل پکار دی) مشرکانو اووے د الله رسول تاسو مه لیکئ خکه چه کچرے زمونږ یقین وے چه ته د الله رسول ئے نو مونږ ستا سره جنگ ولے کولو رسول الله ﷺ حضرت علیؓ ته اوفرمائیل وران کړه دے لفظ لره. هغوی عرض اوکړو زه دد ے ورانولو والا نه یم (دا هغوی د ادب د وجے نه اووے خکه چه دا ورته معلومه وه چه د حضرت ﷺ دا حکم قطعی نه دے ورنه د هغے اطاعت به واجب وو) رسول الله ﷺ هغه لفظ په خپل لاس سره وران کړو (دا د حضرت ﷺ معجزه وه خکه چه حضرت ﷺ لیکونکے او لوستونکے نه وو. او په یو روایت کښې دی چه حضرت ﷺ په لاس مبارک سره په ځائے د رسول د ابن عبد الله لفظ اولیکلو) چه په هغے کښې یو شرط دا هم وو چه مکے ته راشی نو د درے ورخو پورے به وی او وسله به نه راوړی مګر په غلاف کښې دننه

عَنْ أَبِي إِسْحَقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ يَقُولُ لَمَّا صَالَحَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ الْحُدَيْبِيَةِ كَتَبَ عَلِيٌّ كِتَابًا بَيْنَهُمْ قَالَ فَكَتَبَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ ثُمَّ ذَكَرَ بِنَحْوِ حَدِيثِ مُعَاذٍ غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ فِي الْحَدِيثِ هٰذَا مَا كَاتَبَ عَلَيْهِ

د ابواسحٰق نه روایت دے چه ما اوریدلی دی چه براء ابن عازب وئیل چه هر کله رسول الله ﷺ د حدیبیے والاؤ سره صلح اوکړه نو حضرت علیؓ معاهده اولیکله نو اوئے لیکله "محمد رسول الله ﷺ" مخکښې د معاذ د حدیث پشان روایت کړو. مګر په دے کښې دا الفاظ نشته دے. "هٰذَا مَا كَاتَبَ عَلَيْهِ"

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ لَمَّا أُحْصِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ الْبَيْتِ صَالَحَهُ أَهْلُ مَكَّةَ عَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا فَيُقِيمَ بِهَا ثَلَاثًا وَلَا يَدْخُلَهَا إِلَّا بِجُلُبَّانِ السِّلَاحِ السَّيْفِ وَقِرَابِهِ وَلَا يَخْرُجَ بِأَحَدٍ مَعَهُ مِنْ أَهْلِهَا وَلَا يَمْنَعَ أَحَدًا

د براءؓ نه رویت دے هر کله چه رسول الله ﷺ منع کړے شو د کعبے شریفے د تلو نه نو صلح اوکړه د هغوی سره مکے والاؤ په دے شرط باندے چه په (راتلونکی کال) راشی او د درے ورخو پورے په مکه کښې پاتے شی او وسله به په غلاف کښې پټه راوړی او یو مکے والا به د خان سره نه بیائی او ستاسو د ملګرو نه که څوک پاتے کیږی

يَمْكُثُ بِهَا مِمَّنْ كَانَ مَعَهُ قَالَ لِعَلِيٍّ اكْتُبِ
الشَّرْطَ بَيْنَنَا بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ
هٰذَا مَا قَاضٰى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ فَقَالَ
لَهُ الْمُشْرِكُوْنَ لَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ
تَابَعْنَاكَ وَلٰكِنِ اكْتُبْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ فَأَمَرَ
عَلِيًّا أَنْ يَمْحَاهَا فَقَالَ عَلِيٌّ لَا وَاللهِ لَا
أَمْحَاهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ أَرِنِي مَكَانَهَا فَأَرَاهُ مَكَانَهَا فَمَحَاهَا
وَكَتَبَ ابْنُ عَبْدِ اللهِ فَأَقَامَ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ
فَلَمَّا أَنْ كَانَ يَوْمُ الثَّالِثِ قَالُوا لِعَلِيٍّ هٰذَا
آخِرُ يَوْمٍ مِنْ شَرْطِ صَاحِبِكَ فَأْمُرْهُ
فَلْيَخْرُجْ فَأَخْبَرَهُ بِذٰلِكَ فَقَالَ نَعَمْ فَخَرَجَ وَ
قَالَ ابْنُ جَنَابٍ فِي رِوَايَتِهِ مَكَانَ تَابَعْنَاكَ
بَايَعْنَاهُ

(او د مشرکانو ملګرتیا قبلوی) نو هغه به نۀ منع کوئ. حضرت ﷺ حضرت علیؓ ته اوفرمائیل ښه ده دے شرط لره اولیکه بسم الله الرّحمٰن الرّحیم. دا هغه "معاهده خط" دے چه فیصله کړے ده په دے باندے محمد د الله رسول ﷺ. مشرکانو اووے کچرے مونږ دا ګنړلے چه محمد د الله رسول دے نو ستا اطاعت به مونږ کړے وو یا به مو ستا نه بیعت کړے وو. بلکه داسے اولیکه چه محمد د عبد الله ځوئ. حضرت ﷺ حضرت علیؓ ته حکم اوکړو د رسول د لفظ ورانولو دپاره. هغوی اووے قسم په خدائے زۀ ئے نۀ ورانوم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. ښه ده ما ته ددے لفظ ځائے اوښایه حضرت علیؓ ورته اوښودلو. حضرت ﷺ هغه وران کړو او ابن عبد الله ئے اولیکلو. (بیا په دویم کال حضرت ﷺ تشریف راوړو) او د درے ورځو پورے په مکه کښې پاتے شو. هر کله چه دریمه ورځ شوه نو مشرکانو حضرت علی کرم الله وجهه ته اووے دا ستا د ملګری د شرط آخری ورځ ده. اوس دوی ته د تلو وینا اوکړه. هغوی ورته اووے. حضرت ﷺ اووے ښه ده او حضرت ﷺ اووتلو[1].

[1] امام نوویؒ وائی قاضی عیاضؒ وئیلی دی چه ځنے خلقو ددے روایت نه دلیل اخستے دے په دے خبره باندے چه حضرتؐ په خپل لاس مبارك سره اولیکو لکه څنګه چه ظاهر معنی ده. او د بخاری په روایت کښې دی چه جناب رسول خدا ﷺ هغه کاغذ واخستو او اوئے لیکو. او په یو روایت کښې دی چه حضرتؐ په ښه شان سره لیکل نۀ شو کولے او حضرت ﷺ اولیکل. دِغه مذهب والا دا وائی چه الله پاك د حضرت ﷺ په لاس مبارك سره اولیکل په دے طریقه باندے چه قلم پخپله اولیکل او هغوی نۀ پیژندل چه څۀ لیکی. یا الله حضرت ﷺ ته په دغه وخت لیکل اوښودو او دا زیاته معجزه ده د هغوی خکه چه حضرت ﷺ أمی وو. بیا لکه څنګه چه الله هغوی ته هغه علم اوښودو چه په هغے حضرت ﷺ نۀ پوهیدو. او اوئے لوستل پرے هغه څۀ چه هغوی نۀ شو لوستلے. او اوئے لیکل پرے هغه څۀ چه هغوی نۀ شو لیکلے. او په دے سره د حضرت ﷺ په امی کیدو کښې څۀ خلل نۀ پریوځی. او د اکثرو مذهب دادے چه حضرت ﷺ پخپله نۀ دے لیکلے. خکه چه حضرت ﷺ ته الله أمی نبی وئیلے دے. او فرمائیلی دی وَمَا كُنْتَ تَتْلُوا مِنْ قَبْلِهِ مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ. او حضرت ﷺ فرمائیلی دی. او په دے حدیث کښې د لیکلو معنی په بل لیکل دی. لکه په دویم روایت کښې دی چه حضرت ﷺ حضرت علی ته اوفرمائیل اولیکه محمد بن عبد الله. (انتهی مختصراً)

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ قُرَيْشًا صَالَحُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِمْ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ اكْتُبْ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ قَالَ سُهَيْلٌ أَمَّا بِاسْمِ اللهِ فَمَا نَدْرِي مَا بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ وَلٰكِنِ اكْتُبْ مَا نَعْرِفُ بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ فَقَالَ اكْتُبْ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ قَالُوا لَوْ عَلِمْنَا أَنَّكَ رَسُولُ اللهِ لَاتَّبَعْنَاكَ وَلٰكِنِ اكْتُبْ اسْمَكَ وَاسْمَ أَبِيكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اكْتُبْ مِنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ فَاشْتَرَطُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ مَنْ جَاءَ مِنْكُمْ لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكُمْ وَمَنْ جَاءَكُمْ مِنَّا رَدَدْتُمُوهُ عَلَيْنَا فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ أَنَكْتُبُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ إِنَّهُ مَنْ ذَهَبَ مِنَّا إِلَيْهِمْ فَأَبْعَدَهُ اللهُ وَمَنْ جَاءَنَا مِنْهُمْ

د حضرت انس ؓ نه روايت دے قريشو صلحه اوکړه د رسول الله ﷺ سره او په قريشو کښې سهل بن عمرو هم وو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل حضرت علی ؓ ته اوليکه چه بسم الله الرّحمٰن الرّحيم. سهيل وائی مونږ نۀ پيژندو چه بسم الله الرّحمٰن الرّحيم څۀ دے. هغه اوليکه چه مونږ پرے پوهيږو بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ. حضرت ﷺ اوفرمائيل ښه ده اوليکه د محمد د طرفنه چه د الله رسول دے. مشرکانو اووے کچرے مونږ دا گنړلے چه تۀ د الله رسول ئے نو ستا تابعداری مو ولے نۀ کولے. البته خپل اود خپل پلار نوم اوليکه د محمد بن عبد الله د طرفنه بيا هغوی دا شرط اولگوۀ چه کچرے ستاسو نه څوك زمونږ طرفته راشی نو مونږ به هغه واپس نۀ درکوؤ. او کچرے زمونږ نه څوك تاسو ته درشی نو تاسو به ئے مونږ ته واپس راکوئ. صحابه کرامو اووے يا رسول الله ﷺ دا شرط مونږ اوليکو. حضرت ﷺ اوفرمائيل اوليکئ. زمونږ نه چه څوك د دوئ خواله لاړو نو الله د هغه لرے اوساتی او د دوئ نه چه څوك زمونږ خواله راشی نو الله تعالی به د هغوی دپاره هم لاره اوباسی. او د هغوی مشکل به آسان کړی[1].

[1] بيا دغه شان اوشوه. ددے شرط د ليکلو نه مشرکانو ته څۀ فائده اونۀ شوه بلکه څو ورځے پس ځنے خلق لکۀ ابوبصير او د هغۀ ملگری به مسلمانيدل او راتلل به هغوی به د شرط د وجے نه د حضرت خواله نۀ شو راتلے او هغوی خان له په لاره کښې يو تولے قائم کړو او مشرکان ئے داسے اولوټل او تباه کړل چه د هغوی ساه پوزے لره راغله. آخر هغوی تنگ شو او رسول الله ﷺ ته ئے قاصد اوليږو چه مونږ ددغه شرط او د صلحه نامے په وخت حضرت ﷺ په داسے جزئياتو کښې لکه بسم الله الرّحمٰن الرّحيم وغيره کښې تکرار او نۀ کړو خکه چه د بسم الله الرّحمٰن الرّحيم او د بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ دغه يو مضمون دے. دا د مشرکانو بے فائے گرخول وو. او محمد رسول الله په ځائے باندے محمد بن عبد الله د وی. ددے صلحه نامے نه د حضرت ﷺ غرض بل وو د اچه هغوی لره مشرکان بيوقوف اونۀ گنړی. او مسلمانان او مشرکان ددے صلح په وجه سره په خپلو کي تک راتك شروع کړی او مسلمانان به د خپلو خپلوانو دوستانو سره ميلاويږی او په حقه خبره به ئے پوهه کوی. آخر د کومے پورے به څۀ چه په دين کښې حق دی هغه به يوه نه يوه ورځ د بنيادم په پوهه کښې راځی. او بيا دغه شان اوشوه چه ددغه صلح په موده کښې په زرگونو خلق نوی مسلمانان شو. او د کافرانو زور په ماتيدو شو. تر دے پورے چه مکه معظمه فتح شوه او تول قريش مسلمانان شو. او د قريشو په انتظار کښې د عربو نورے قبيلے هم مسلمانانے شوے. او د الله تعالی رسول ته کاميابی راغله او دا سورة نازل شو. إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ د آخره پورے.

سَيَجْعَلُ اللهُ لَهُ فَرَجًا وَمَخْرَجًا

عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ قَامَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ يَوْمَ صِفِّينَ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ اتَّهِمُوا أَنْفُسَكُمْ لَقَدْ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ وَلَوْ نَرَى قِتَالاً لَقَاتَلْنَا وَذٰلِكَ فِي الصُّلْحِ الَّذِي كَانَ بَيْنَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ فَجَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَسْنَا عَلَى حَقٍّ وَهُمْ عَلَى بَاطِلٍ قَالَ بَلَى قَالَ أَلَيْسَ قَتْلاَنَا فِي الْجَنَّةِ وَقَتْلاَهُمْ فِي النَّارِ قَالَ بَلَى قَالَ فَفِيمَ نُعْطِي الدَّنِيَّةَ فِي دِينِنَا وَنَرْجِعُ وَلَمَّا يَحْكُمِ اللهُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ فَقَالَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ إِنِّي رَسُولُ اللهِ وَلَنْ يُضَيِّعَنِي اللهُ أَبَدًا قَالَ فَانْطَلَقَ عُمَرُ فَلَمْ يَصْبِرْ مُتَغَيِّظًا فَأَتَى أَبَا بَكْرٍ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ أَلَسْنَا عَلَى حَقٍّ وَهُمْ عَلَى بَاطِلٍ قَالَ بَلَى قَالَ أَلَيْسَ قَتْلاَنَا فِي الْجَنَّةِ وَقَتْلاَهُمْ فِي النَّارِ قَالَ بَلَى قَالَ فَعَلاَمَ نُعْطِي الدَّنِيَّةَ فِي دِينِنَا وَنَرْجِعُ وَلَمَّا يَحْكُمِ اللهُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ فَقَالَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ إِنَّهُ رَسُولُ اللهِ

سهيل بن حنيف د صفين په ورځ (هر كله چه د حضرت علیؓ او معاويهؓ جنګ وو) پاڅيدو او اوئې وئيل اے خلقو! خپل قصور اوپيژنئ. مونږ د رسول الله ﷺ سره وو په كومه ورځ چه د حديبيے صلح اوشوه. كچرے مونږ جنګ كولے نو جنګيدلی به وو او دا د هغه صلح ذكر دے كومه چه د رسول الله ﷺ او مشركانو په مينځ كښې شوے وه. نو حضرت عمرؓ راغے د رسول الله ﷺ خواله او عرض ئے اوكړو يا رسول الله! ولے مونږ په رښتونی دين باندے نه يو او كافر په غلط دين باندے نه دی. حضرت ﷺ اوفرمائيل ولے نه دی. بيا هغوی اووے په مونږ كښې چه څوك اووژلے شی هغه به جنت ته نه ځی. او په دوی كښې چه څوك اووژلے شی هغه به جهنم ته ځی. حضرت ﷺ اوفرمائيل ولے به نه ځی. (مطلب د حضرت عمرؓ دا وو چه بيا ددوی په مرضی صلح ولے كوو جنګ ولے نه كوو) حضرت عمرؓ اووے بيا ولے مونږ په خپل دين باندے داغ لګوؤ او واپس كيږو. او اوس الله تعالی زمونږه او د دوی فيصله نه ده كړے. حضرت ﷺ اوفرمائيل اے د خطاب خويه زه د الله رسول يم هغه ما نه تباه كوی چرته هم. ددے په اوريدو سره عمرؓ روان شو او د غصے نه صبر اونه كړو او د ابوبكرؓ خواله لاړو. او هغوی ته ئے اووے. اے ابوبكره ولے مونږ په حقه نه يو او هغه په باطله نه دی؟ ابوبكر اووے ولے نه دی. هغوی اووے زمونږ مقتول به جنت ته نه ځی او د هغوی مقتول به دوزخ ته نه ځی؟ ابوبكرؓ اووے ولے به نه ځی! هغوی اووے بيا ولے مونږ د خپل دين نقصان كوو او واپس كيږو. او تر اوسه زمونږه او د هغوی فيصله نه ده كړے الله تعالی. ابوبكرؓ اووے اے د خطاب خويه! هغوی د الله رسول دے الله هغوی لره چرته نه تباه كوی (دلته نه د ابوبكر صديقؓ

وَلَنْ يُضَيِّعَهُ اللهُ أَبَدًا قَالَ فَنَزَلَ الْقُرْآنُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْفَتْحِ فَأَرْسَلَ إِلَى عُمَرَ فَأَقْرَأَهُ إِيَّاهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَوَفَتْحٌ هُوَ قَالَ نَعَمْ فَطَابَتْ نَفْسُهُ وَرَجَعَ

روحاني اتصال او نږديکت د رسول الله ﷺ سره معلومول پکار دی) چه هغوی هوبهو هغه جواب ورکړو کوم چه حضرت ﷺ ورکړے وو) بیا قرآن شریف نازل شو په رسول الله ﷺ باندے هغه چه په هغې کښې د فتح ذکر دے (یعنی سورة إِنَّا فَتَحْنَا) حضرت ﷺ حضرت عمر ته قاصد اولیږلو او دا سورة ئې ورته اولوستلو هغوی عرض اوکړو یا رسول الله دا صلح زمونږ دپاره د فتح ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. بیا هغوی خوشحاله شو او واپس راغې (او الله تعالی هم هغسې اوکړو چه ددغه صلح نتیجه فتح شوه)[1]

عَنْ شَقِيقٍ قَالَ سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ حُنَيْفٍ يَقُولُ بِصِفِّينَ أَيُّهَا النَّاسُ اتَّهِمُوا رَأْيَكُمْ وَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُنِي يَوْمَ أَبِي جَنْدَلٍ وَلَوْ أَنِّي أَسْتَطِيعُ أَنْ أَرُدَّ أَمْرَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَرَدَدْتُهُ وَاللهِ مَا وَضَعْنَا سُيُوفَنَا عَلَى عَوَاتِقِنَا إِلَى أَمْرٍ قَطُّ إِلَّا أَسْهَلْنَ بِنَا إِلَى أَمْرٍ نَعْرِفُهُ إِلَّا أَمْرَكُمْ هَذَا لَمْ يَذْكُرِ ابْنُ نُمَيْرٍ إِلَى أَمْرٍ قَطُّ

د شقیق نه روایت دے وائی چه ما د سهل بن حنیف نه واوریدل چه هغه وئیل په صفین کښې چه اے خلقو! د خپلو عقلونو قصور اوګڼړئ قسم دے په الله چه تاسو به لیدلے وے ماله د ابوجندل په ورځ (یعنی د حدیبیې په ورځ د ابوجندل نوم عاص بن سهل بن عمرو وو) کچرے ما طاقت لرے د رسول الله ﷺ د حکم د واپس کولو. البته واپس کړے به مے وو هغې لره. (دا ئې د مبالغې په طور اووے یعنی صلح په مونږ دومره ناخوښه وه) قسم په خدائې مونږ چرته هم خپلې تورے په اوګو باندے نه دی ایخې مګر هغوی یوړو مونږه د هغې خبرے په طرف چه هغه مونږ پیژندله مګر په هغه جنګ کښې (کوم چه د شام والاؤ سره وو)

عَنِ الأَعْمَشِ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمَا إِلَى أَمْرٍ يُفْظِعُنَا

د اعمش نه په دے اسناد سره د پورتنې حدیث پشان روایت کړے شوے دے.

عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ

د ابو وائل نه روایت دے چه ما د سهل بن حنیف نه اوریدلی دی چه

---

[1] د سهل دا مطلب وو چه د حضرت علی ملګرے به هم په صلح او تحکیم باندے راضی وی. اګر چه په هغوی باندے ګرانه وه خو سهل په دے پوهه کړو چه څنې خبرے بدے معلومیږی لیکن د هغې انجام ښه وی جنانچه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې صحابو صلح حدیبیې ته بد خیال کولو خو الله تعالی دغه صلح د هغوی په حق کښې غوره کړه او انجام د هغې دا شو چه مکه فتح شوه او مسلمانان غالب شو.

حُنَيْفٍ بِصِفِّينَ يَقُولُ اتَّهِمُوا رَأْيَكُمْ عَلَى دِينِكُمْ فَلَقَدْ رَأَيْتُنِي يَوْمَ أَبِي جَنْدَلٍ وَلَوْ أَسْتَطِيعُ أَنْ أَرُدَّ أَمْرَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا فَتَحْنَا مِنْهُ فِي خُصْمٍ إِلاَّ انْفَجَرَ عَلَيْنَا مِنْهُ خُصْمٌ

هغه د جنګ صفين په موقع باندے وئيل . د خپلو عقلونو قصور اوګنړئ په خدائے قسم چه ما د ابوجندل په ورځ (يعني د صلح حديبيے په ورځ خپل خان مے داسے اوليدۀ کچرے ما طاقت لرۀ د رسول الله ﷺ د حکم د واپس کولو نو خامخا به مے واپس کولواو ستاسو داسے رائے ده چه هر کله ي ګُټ د هغے نه مونږ کهولاؤ کړو نو دويم ګُټ کهولاويږي[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ حَدَّثَهُمْ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ إِلَى قَوْلِهِ فَوْزًا عَظِيمًا مَرْجِعَهُ مِنَ الْحُدَيْبِيَةِ وَهُمْ يُخَالِطُهُمُ الْحُزْنُ وَالْكَآبَةُ وَقَدْ نَحَرَ الْهَدْيَ بِالْحُدَيْبِيَةِ فَقَالَ لَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آيَةٌ هِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا جَمِيعًا

د انس بن مالك نه روايت دے چه هر کله دا سورة نازل شو. انا فتحنا لك فتحامبينا د آخره پورے . نو حضرت ﷺ واپس راتلو د حُديبيے نه او صحابو ته ډير غم او رنځ وو. او حضرت ﷺ هديه قرباني کړے وه په حديبيه کښ (ځکه چه کافرانو په مکه کښ راتلو ته پرے نۀ ښودل) بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل چه په ما باندے يو آيت نازل شو چه هغه د ټولے دنيا نه زيات ما ته غوره دے.

عَنْ أَنَسٍ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ

د انس بن مالك نه روايت دے په مثل (پورتنے حديث) د ابی عروبه.

بَابُ الْوَفَاءِ بِالْعَهْدِ

باب : اقرار لره پوره کول

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ قَالَ مَا مَنَعَنِي أَنْ أَشْهَدَ بَدْرًا إِلاَّ أَنِّي خَرَجْتُ أَنَا وَأَبِي حُسَيْلٌ قَالَ فَأَخَذَنَا كُفَّارُ قُرَيْشٍ قَالُوا إِنَّكُمْ تُرِيدُونَ مُحَمَّدًا فَقُلْنَا مَا نُرِيدُهُ مَا نُرِيدُ إِلاَّ الْمَدِينَةَ

د حذيفه بن اليمان نه روايت دے. زۀ بدر ته د راتلو نه څۀ شی نۀ يم منع کړے مګر دا چه زۀ رااووتم د خپل پلار حسيل سره (دا کنيت دے د حذيفه د پلار او څنو حسل وئيلے دے) نو مونږ د قريشو کافرانو اونيوؤ. او اوئے وئيل تاسو د محمد ﷺ حواله تلل غواړئ پس مونږه اووے مونږ

[1]: قاضی عياض وئيلی دی د صحيح مسلم په نسخو کښ ما فتحنا دےاو دا غلط دے صحيح ما سددنا دے او د بخاری په روايت کښ هم دغه دے او د غسے ئے معنی تهيك کيږی. ځکه چه اوس به دا معنی وی چه هر کله مونږ يو ګُټ د هغے بند وو نو بل کهولاويږی. نووی وائی دد ے حديثو نه د کافرو سره د صلح کولو جواز وتلے دے هر کله چه ضرورت يا مصلحت وی. او په دے باندے د علماؤ اتفاق دے ليکن زمونږ دادے چه د صلح موده د لسو کالونه زياته نۀ شی کيدے په هغه حالت کښ چه هر کله مسلمان مغلوب وی او کچرے غالب وی نو د څلورو مياشتو نه زيات صحيح نۀ دے. او يو قول دادے چه د يو کال د ننه صحيح دے. او امام مالك وئيلی دی چه د مودے څۀ حد نشته بلکه څومره چه د حاکم په رائے کښ مناسب معلومه شی صحيح ده.

فَأَخَذُوا مِنَّا عَهْدَ اللهِ وَمِيثَاقَهُ لَنَنْصَرِفَنَّ إِلَى الْمَدِينَةِ وَلاَ نُقَاتِلُ مَعَهُ فَأَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْنَاهُ الْخَبَرَ فَقَالَ انْصَرِفَا نَفِي لَهُمْ بِعَهْدِهِمْ وَنَسْتَعِينُ اللهَ عَلَيْهِمْ

د هغوی خواله تلل نهٔ غواړو بلکه مونږه مدینې ته تلل غواړو. بیا هغوی زمونږ نه د الله په نوم وعده او اقرار واخستو چه مونږ مدینې ته خو او محمد ﷺ په ملګرتیا کښې نهٔ جنګیږو. هر کله چه مونږ د رسول الله ﷺ خواله راغلو نو مونږ ورته ټوله قصه بیان کړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو مدینې ته لاړ شئ. مونږ د هغوی اقرار پوره کوو او د الله نه مدد غواړو په هغوی باندې[1].

بَاب غَزْوَةِ الْأَحْزَابِ

باب : غزوهٔ احزاب یعنی د جنګ خندق بیان

عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا عِنْدَ حُذَيْفَةَ فَقَالَ رَجُلٌ لَوْ أَدْرَكْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاتَلْتُ مَعَهُ وَأَبْلَيْتُ فَقَالَ حُذَيْفَةُ أَنْتَ كُنْتَ تَفْعَلُ ذٰلِكَ لَقَدْ رَأَيْتُنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْأَحْزَابِ وَأَخَذَتْنَا رِيحٌ شَدِيدَةٌ وَقُرٌّ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابراهیم تیمی نه روایت دے هغوی اوویلی دی د خپل پلار (یزید بن شریك تیمی نه) هغوی وائی مونږ د حذیفه بن الیمان سره ناست وو یو سړی اووے کچرے زهٔ د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې وے نو جهاد به مے کوو د هغوی سره او کوشش به مے کوو په جنګ کښې حذیفه اووے تا به داسے کول (یعنی ستا وئیل معتبر نهٔ شی کیدے کول خاڼله شے دے او وئیل خاڼله شے دے صحابه کرامو چه کوم کوشش کړے تا د هغے نه زیات نهٔ شو کولے) ته ګوره مونږ د رسول الله ﷺ سره وو د احزاب (دا جمع ده د حزب او حزب وئیلے شی ګروه ته

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه چه په جنګ کښې دروغ وئیل صحیح دی ولے چه حذیفه خاص د حضرت ﷺ خواله راتلو. خو په مصلحت سره هغوی دروغ اوونیل چه مونږ مدینې ته خو. او د کومے پورے چه تعریض کیدے شی (تعریض دا دے چه دروغ هم نهٔ وی او خپل مطلب هم فوت نهٔ شی) اولی دے. لیکن په جنګ کښې دروغ وئیل هم صحیح دی. دغه شان دروغ وئیل صحیح دی په خلقو کښې د صلح کولو دپاره. او خاوند لره د بی بی سره د هغے د راضی کولو دپاره. لکه څنګه چه په حدیث کښې د دے تصریح راغلے ده. د دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه اقرار پوره کول ضروری دی. او اختلاف کړے دے علماؤ په دے کښې چه کچرے کافر مسلمان قید کړی او د هغهٔ نه د نهٔ تختیدو اقرار واخلی نو د امام شافعیؒ او ابوحنیفهؒ او د اهل کوفو دا قول دے چه ددغه اقرار پوره کول ضروری نهٔ دی بلکه هر کله چه موقعه اومومی او د تښتی. او د امام مالکؒ په نزد د اقرار پوره کول ضروری دی او کچرے کافرانو په هغهٔ باندے په زور قسم اوکړو د نهٔ تختیدو نو په اتفاق د علماؤ تښتیدل صحیح دی. ځکه چه په زور قسم نهٔ لازمیږی. لیکن حذیفه او د هغوی پلار ته حضرت ﷺ د اقرار پوره کولو حکم ورکړو په دے خیال سره چه خما صحابه په وعده ماتولو کښې بدنام نهٔ شی. او دا حکم په طور د واجبیدو نهٔ وو. (نووی)

أَلَا رَجُلٌ يَأْتِينِي بِخَبَرِ الْقَوْمِ جَعَلَهُ اللهُ مَعِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَسَكَتْنَا فَلَمْ يُجِبْهُ مِنَّا أَحَدٌ ثُمَّ قَالَ أَلَا رَجُلٌ يَأْتِينَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ جَعَلَهُ اللهُ مَعِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَسَكَتْنَا فَلَمْ يُجِبْهُ مِنَّا أَحَدٌ ثُمَّ قَالَ أَلَا رَجُلٌ يَأْتِينَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ جَعَلَهُ اللهُ مَعِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَسَكَتْنَا فَلَمْ يُجِبْهُ مِنَّا أَحَدٌ فَقَالَ قُمْ يَا حُذَيْفَةُ فَأْتِنَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ فَلَمْ أَجِدْ بُدًّا إِذْ دَعَانِي بِاسْمِي أَنْ أَقُومَ قَالَ اذْهَبْ فَأْتِنِي بِخَبَرِ الْقَوْمِ وَلَا تَذْعَرْهُمْ عَلَيَّ فَلَمَّا وَلَّيْتُ مِنْ عِنْدِهِ جَعَلْتُ كَأَنَّمَا أَمْشِي فِي حَمَّامٍ حَتَّى أَتَيْتُهُمْ فَرَأَيْتُ أَبَا سُفْيَانَ يَصْلِي ظَهْرَهُ بِالنَّارِ فَوَضَعْتُ سَهْمًا فِي كَبِدِ الْقَوْسِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْمِيَهُ فَذَكَرْتُ قَوْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَذْعَرْهُمْ عَلَيَّ وَلَوْ رَمَيْتُهُ لَأَصَبْتُهُ فَرَجَعْتُ وَأَنَا أَمْشِي فِي مِثْلِ الْحَمَّامِ فَلَمَّا أَتَيْتُهُ فَأَخْبَرْتُهُ بِخَبَرِ الْقَوْمِ وَفَرَغْتُ قُرِرْتُ فَأَلْبَسَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فَضْلِ عَبَاءَةٍ كَانَتْ عَلَيْهِ يُصَلِّي فِيهَا فَلَمْ أَزَلْ نَائِمًا حَتَّى أَصْبَحْتُ فَلَمَّا أَصْبَحْتُ قَالَ قُمْ

هغه جنګ ته کوم چه په سـ۵ ـهـ کښې شوے دے هغے ته احزاب وئیلے ش. ځکه چه د کافرانو ډیر جماعتونه د رسول الله ﷺ سره جنګ ته راغلی وو) په شپه او هوا ډیره تیزه چلیدله او یخنی هم ښه پرقیدله دغه وخت حضرت اوفرمائیل چه څوك شته چه لاړ شی او د کافرانو خبر راوړی. الله تعالی به هغهٔ لره د قیامت په ورځ ځما په خواه کښې ځائے ورکړی.دد ے په اوریدو مونږ خلق خاموش پاتے شو. او هیچا جواب ور نهٔ کړو (د چا همت رانغے چه په دومره یخنئ کښې د شپے د یرے ځائے ته لاړ شی او خبر راوړی حالانکه د صحابۀ جان نثاری او همت مشهور دے) بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك سړے شته چه د کافرانو خبر ماله راوړی الله تعالی به هغهٔ لره د قیامت په ورځ ځما سره اوساتی. هیچا جواب ورنهٔ کړو تول چپ پاتے شو. آخر حضرت ﷺ اوفرمائیل اے حذیفه لاړ شه او د کافرانو خبر ماله راوړه. ځما نور څهٔ تدبیر نهٔ جوړیدهٔ. ځکه چه حضرت ﷺ زما نوم واخستو او د تلو حکم ے اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل لاړ شه او خبر راوړه راشه د کافرانو. او مهٔ خبره وه هغوی لره په ما باندے (یعنی داسے څهٔ کار مهٔ کوه چه په هغے سره د هغوی غصه راشی او تا اوو‌ژنی. یا جنګ ته تیار شی) هر کله چه زهٔ د حضرت ﷺ د خوا نه روان شوم نو داسے معلومه شوه لکه چه څوك د حمام دننه روان وی. (یعنی یخنی بالکل ختمه شوه بلکه ګرمی معلومیده. دا د هغوی د دُعا برکت وو. د الله او د رسول الله فرمانبرداری خو اول په نفس باندے ګرانه وی لیکن هر کله چه ئے د کوشش نه شرع کړی نو په ځائے د تکلیف ورته لذت او راحت حاصلیږی) تردے پورے چه زهٔ د کافرانو خواته اورسیدم څهٔ ګورم چه ابوسفیان خپله شا اُورته ګرموی ما پرے غشے لینده رابنکوده او اراده

يَا نُوَمَانُ

مے اوکړه د هغهٔ د وژلو. بیا ما ته د رسول الله ﷺ فرمان یاد شو چه داسے څهٔ کار به نهٔ کوے چه په هغې سره د هغوی غصه پیدا شی او کچرے ما وژلے نو بیشکه ابوسفیان لګیدهٔ. آخر دا چه زهٔ واپس شوم بیا ما ته داسے معلومیده چه د حمام دننه روان یم. هر کله چه د رسول الله ﷺ خواله راغلم او ټول حال مے ورته اووے هغه وخت یخنی معلومه شوه (دا د هغهٔ لویه معجزه وه د نبی ﷺ) هغوی ما ته خپل یو بنکلے کمبل را پسر کړو چه هغه به د حضرت پسر وو او مونځ به ئے کولو. ما چه هغه پسر کړو او اوده شوم نو د سحره پورے اوده وم. هر کله چه سحر شو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل پاسه دیر اوده کیدونکیه[1].

بَاب غَزْوَةِ أُحُدٍ

باب : د جنګ اُحد بیان

[1]: نووي وائی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه حاکم لره پټ جاسوس او مخبر لیګل پکار دی. او د دشمن خبر اخستل پکار دی. او په جنګ کښی خو دا ډیر ضروری دی. او په امن کښی هم د کافرانو اخبار په ذریعه د خپلو وکیلانو او ایلچیانو همیشه معلومول پکار دی او د هغوی د قوت او سازوسامان او د لښکر خبر هم وخت اخستل پکار دی. او د دے خبرے بندوبست ضرور کول پکار دی چه کافر د وسلو په معیار او فوج په تعداد کښی د مسلمانانو نه زیات نهٔ شی. ما یو ځل په تنهایئ کښی فکر اوکړو چه د مسلمانانو د مغلوب کیدو او تباه کیدو وجه څهٔ ده؟ معلومه شوه چه د کتاب او سنت نه مخ اړول د الله تعالی یره پریخودل او د دنیا په محبت کښی مستغرق کیدل ئے اصلی وجه ده. او د دے زمانے عقلمند خلق چه کومے وجے ترشی چه تجارت نهٔ کیدل زراعت نهٔ کیدل صنعت نهٔ کیدل دا ټول غلط دی. او نخرے دی د مسلمانانو په مخکښی کیدو کښی صرف دغه حائل دے چه قرآن او حدیث ئے پریخودی دی او د دنیا په هندو کښی دا ے نښتی دی چه دین ئے هډو په خیال کښی نهٔ راځی. بیا الله تعالی هم دوی لره په عذاب کښی ګرفتار کړی دی چه دنیا هم دوی ته نهٔ میلاویږی او باوجود د دے چه په فکر کښی ئے سر ګردانه دی. او شپه او ورځ په دنیا دارئ کښی مصروف دی. بیا ورځ په ورځ نور مفلس او تباه کیږی. او د کومے پورے چه هغه د دے نه توبه نهٔ کړی د هغے پورې به پرے دا عذاب چرته هم کم نهٔ شی. هغه کهٔ هر څومره اولولی او علم حاصل کړی بیا ما خیال اوکړو چه کافر خو هم د الله نه غافله دی او شپه او ورځ په دنیا کښی مصروف دی. هغوی ته ئے دا حکومت او دولت ولے ورکړے دے. معلومه شوه چه د کافرانو دپاره خو صرف دغه دنیا ده. او د هغوی کفر د دغه یو امر یعنی په آخرت کښی د بے نصیبه کولو دپاره پوره دے. اوس د بل عذاب صورت نشته نهٔ هغوی له د دنیا د عذاب دپاره د وینبولو او د دین دپاره د بیدارولو ضرورت شته. بلکه الله تعالی خپلو مسلمانانو بندیګانو لره خواه کهٔ هر څومره ګنهګار وی په تکلیف ورکولو سره بیدارول غواړی. او کیږی به هغه څهٔ چه د هغهٔ په علم کښی دی. صدقه د خپل پروردګار او مالك حقیقی نه قربان او د آقائے واقعی نه یا الله ته په خپل فضل سره او د خاتم الانبیاء ﷺ د اطاعت په ذریعه د مسلمانانو زړهٔ په کتاب او سنت باندے اولګوے. او یوځل بیا ورته خپل او د خپل دین کامیابی اوښائے. آمین یا رب العالمین.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُفْرِدَ يَوْمَ أُحُدٍ فِي سَبْعَةٍ مِنَ الأَنْصَارِ وَرَجُلَيْنِ مِنْ قُرَيْشٍ فَلَمَّا رَهِقُوهُ قَالَ مَنْ يَرُدُّهُمْ عَنَّا وَلَهُ الْجَنَّةُ أَوْ هُوَ رَفِيقِي فِي الْجَنَّةِ فَتَقَدَّمَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ ثُمَّ رَهِقُوهُ أَيْضًا فَقَالَ مَنْ يَرُدُّهُمْ عَنَّا وَلَهُ الْجَنَّةُ أَوْ هُوَ رَفِيقِي فِي الْجَنَّةِ فَتَقَدَّمَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ فَلَمْ يَزَلْ كَذَلِكَ حَتَّى قُتِلَ السَّبْعَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَاحِبَيْهِ مَا أَنْصَفْنَا أَصْحَابَنَا

د انس بن مالكؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ د أحد په ورځ (هر كله چه كافران غلبه شو او مسلمان مغلوب شو) جدا شو او ووه سړی د انصارو او دوه د قريشو د حضرت ﷺ سره پاتے شو او كافرانو په حضرت ﷺ باندے هجوه اوكړه. حضرت ﷺ اوفرمائيل چا چه دوی لرمواپس كړل هغۀ ته به جنت ميلاو شی او دوی به په جنت كښ خما ملګرے وی يو انصاری ورمخكښ شو او اوجنګيدۀ تردے پورې چه شهيد شو. هغوی بيا هجوه اوكړه حضرت ﷺ اوفرمائيل چا چه واپس كړو دوی لرۀ هغۀ ته به جنت ميلاو شی بيا به په جنت كښ خما ملګرے وی يو بل انصاری ورمخكښ شو او اوجنګيدۀ. تردے پورے چه قتل شو. بيا دغه حال روان وو تردے پورے چه اووۀ واړه انصار شهيدان شول (سبحان الله د انصارو وفاداری او جان نثاری څنګه وه. ددے نه د صحابوؓ د رسول الله ﷺ درجه او مرتبه پيژندل پكار دی) بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل مونږ انصاف او نۀ كړو د خپلو ملګرو سره. يا زمونږ يارانو زمونږ سره انصاف او نۀ كړو. (په رومبی صورت كښ به مطلب داوی چه انصاف او نۀ كړے شو يعنی قريش موجود وو او انصار شهيدان شو. دغه وتل قريشو له پكار وو. په دويم صورت كښ به دا معنٰی وی چه زمونږ يا ران كوم چه اوتختيدل ځان ئے بچ كړو هغوی انصاف او نۀ كړو چه د هغوی رونړه شهيدان شو او هغه د خپل ځان د بچ كولو په فكر كښ وو.

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ يُسْأَلُ عَنْ جُرْحِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ فَقَالَ جُرِحَ وَجْهُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُسِرَتْ

د عبد العزيز بن ابی حازم نه روايت دے. هغوی د خپل پلار ابو حازم (سلمه بن دينار مدنی) نه اوريدلی. او هغوی د سهل بن سعيدؓ نه د هغوی نه تپوس اوشو د رسول الله ﷺ د زخمی كيدو د حال د أحد د ورځے. هغوی اووے د. هغوی مخ مبارك زخمی شو او

رَبَاعِيَتُهُ وَهُشِمَتِ الْبَيْضَةُ عَلَى رَأْسِهِ فَكَانَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ رَسُولِ اللهِ ﷺ تَغْسِلُ الدَّمَ وَكَانَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ يَسْكُبُ عَلَيْهَا بِالْمِجَنِّ فَلَمَّا رَأَتْ فَاطِمَةُ أَنَّ الْمَاءَ لَا يَزِيدُ الدَّمَ إِلَّا كَثْرَةً أَخَذَتْ قِطْعَةَ حَصِيرٍ فَأَحْرَقَتْهُ حَتَّى صَارَ رَمَادًا ثُمَّ أَلْصَقَتْهُ بِالْجُرْحِ فَاسْتَمْسَكَ الدَّمُ

غاښونه ئې شهيدان شو او په سر مبارك بانده ئې د اوسپنې توبئ ما ته شوه (نو سر ته به ئې څومره تكليف راغلے وی) بيا حضرت فاطمې لور د رسول الله ﷺ به وينې وينځلې او حضرت علی به پرې اوبهٔ غورځولې. هركله چه فاطمې اوليدل چه د اوبو سره وينه زياته بهيږی نو هغوی د بو پوزی ټکړه اوسيزله او دهغې هغه ايره ئې ورته په زخم اولګوله نو وينه بنده شوه.

عَنْ أَبِي حَازِمٍ أَنَّهُ سَمِعَ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ وَهُوَ يُسْأَلُ عَنْ جُرْحِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَمَ وَاللهِ إِنِّي لَأَعْرِفُ مَنْ كَانَ يَغْسِلُ جُرْحَ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَمَنْ كَانَ يَسْكُبُ الْمَاءَ وَبِمَاذَا دُووِيَ جُرْحُهُ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ عَبْدِ الْعَزِيزِ غَيْرَ أَنَّهُ زَادَ وَجُرِحَ وَجْهُهُ وَقَالَ مَكَانَ هُشِمَتْ كُسِرَتْ

د ابوحازم نه روايت دے. هغوی د سهل بن سعد نه اوريدلی دی هر كله چه د هغوی نه د رسول الله ﷺ د زخمی كيدو حال اوتپوسلے شو. هغوی اووے زهٔ پيژنم په خدائے مے د قسم وی هغه سړی لره چه د حضرت ﷺ زخم ئې وينځلو. او چا چه اوبهٔ اچولې. او كومه دوائی اوشوه. بيائې بيان كړو دغسے څنګه چه په پورتنی حديث كښې تير شو مګر په دے كښې دا زياته ده چه د حضرت ﷺ مخ مبارك زخمی شو او په دے كښې د هُشِمَتْ په ځائے كُسِرَتْ لفظ دے.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ فِي حَدِيثِ ابْنِ أَبِي هِلَالٍ أُصِيبَ وَجْهُهُ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ مُطَرِّفٍ جُرِحَ وَجْهُهُ

د سهل بن سعد نه د ابی هلال راوی په واسطه د نبی ﷺ نه چه كوم روايت دے په دے كښې لفظ أُصِيبَ وَجْهُهُ دے او د ابن مُطرف راوی په واسطے سره لفظ جُرِحَ وَجْهُهُ دے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَشُجَّ فِي رَأْسِهِ فَجَعَلَ يَسْلُتُ الدَّمَ عَنْهُ وَيَقُولُ كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوا نَبِيَّهُمْ وَكَسَرُوا رَبَاعِيَتَهُ وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللهِ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ

د حضرت انس نه روايت دے. د أحد په ورځ د رسول الله ﷺ غاښ مبارك مات شو او سر ئې هم زخمی شو حضرت ﷺ وينه لرے كوله او فرمائيل ئې. څنګه به خلاصے او مومی يو قوم چا چه زخمی كړے دے پيغمبر خپل لره او د هغهٔ غاښ ئې مات كړے دے. حالانكه هغه رابلل دوی لره د الله په طرف. په دغه وخت دا آيت نازل شو. ستا څهٔ اختيار نشته دے كهٔ الله اوغواړی معاف به ئې كړی او كهٔ

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَهُوَ يَنْضِحُ الدَّمَ عَنْ جَبِينِهِ

او غواړي عذاب به ورکړي ځکه چه دوی ظالمان دی[1]
د اعمش نه په دے اسناد روایت دے مګر په دے کښې دادی چه حضرت ﷺ وینه او چوله د خپل تندی مبارك نه

بَابُ اشْتِدَادِ غَضَبِ اللهِ عَلٰى مَنْ قَتَلَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب: چا لره چه رسول الله ﷺ پخپله قتل کړی په هغهٔ د الله تعالی غصه ډیره سخت ده

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ عَلٰى قَوْمٍ فَعَلُوْا هٰذَا بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ حِيْنَئِذٍ يُشِيْرُ إِلٰى رَبَاعِيَتِهِ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ عَلٰى رَجُلٍ يَقْتُلُهُ رَسُوْلُ اللهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ

همام بن منبه اووے چه ابوهریره مونږ ته د رسول الله ﷺ حدیث بیان کړو چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی لویه غصه ده د الله په هغه خلقو باندے چا چه داسے کړی دی او اشاره ئے کوله د خپل غاښ په طرف. او فرمائیلی دی حضرت ﷺ لویه غصه ده د الله په هغه سړی باندے چه هغهٔ لره رسول الله ﷺ قتل کړی. د الله تعالی په لاره کښې (یعنی په جهاد کښې چه چا لره اووژنی ځکه چه دغه مردود به د پیغمبر د وژلو اراده کړے وی او دے نه مراد هغه خلق نهٔ دی چه هغوی لره حضرت ﷺ په حد یا قصاص کښې اووژنی)

بَابُ مَا لَقِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَذَى الْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُنَافِقِيْنَ

باب: رسول الله ﷺ د مشرکانو او د منافقانو د لاسه چه کوم تکلیف اوموندهٔ د هغے بیان

عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ عِنْدَ الْبَيْتِ وَأَبُوْ جَهْلٍ وَأَصْحَابٌ لَهُ جُلُوْسٌ وَقَدْ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د خانه کعبے په خواه کښې مونځ کولو او ابوجهل د خپلو یارانو سره ناست وو. او یوه ورځ مخکښې ئے یوه اوښه حلاله کړے وه. ابوجهل اووے

[1] حضرت ﷺ چه د خپل قوم دا حال اولیدهٔ نو د هغوی د تباهئ یقین ئے اوکړو. لیکن الله جل جلاله ورته اوښوده چه ستا په کار خانهٔ الهی کښې څهٔ کار نشته دے. اوس هم کلاالله غواړی نو هغوی به معاف کړی او عذاب هم ورکولے شی. بیا آخر الله تعالی هغوی لره په عذاب کړو چه خاص په دنیا کښې تباه او برباد ذلیل او خوار شو. د مکے حکومت ترے هم لاړو. تول غرور ترے د پوزے په لاز اووتو. او الله پاك خپل پیغمبر لره غالب کړو. په یو روایت کښې دی چه حضرت ﷺ د قریشو ظالمانو ته په خیرو شروع اوکړه نو بیا هله الله تعالی دا ایت نازل کړو.

نُحِرَتْ جَزُورٌ بِالأَمْسِ فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ أَيُّكُمْ يَقُومُ إِلَى سَلاَ جَزُورِ بَنِي فُلاَنٍ فَيَأْخُذُهُ فَيَضَعُهُ فِي كَتِفَيْ مُحَمَّدٍ إِذَا سَجَدَ فَانْبَعَثَ أَشْقَى الْقَوْمِ فَأَخَذَهُ فَلَمَّا سَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ قَالَ فَاسْتَضْحَكُوا وَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَمِيلُ عَلَى بَعْضٍ وَأَنَا قَائِمٌ أَنْظُرُ لَوْ كَانَتْ لِي مَنَعَةٌ طَرَحْتُهُ عَنْ ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدٌ مَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ حَتَّى انْطَلَقَ إِنْسَانٌ فَأَخْبَرَ فَاطِمَةَ فَجَاءَتْ وَهِيَ جُوَيْرِيَةٌ فَطَرَحَتْهُ عَنْهُ ثُمَّ أَقْبَلَتْ عَلَيْهِمْ تَشْتِمُهُمْ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَتَهُ رَفَعَ صَوْتَهُ ثُمَّ دَعَا عَلَيْهِمْ وَكَانَ إِذَا دَعَا دَعَا ثَلاَثًا وَإِذَا سَأَلَ سَأَلَ ثَلاَثًا ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا سَمِعُوا صَوْتَهُ ذَهَبَ عَنْهُمُ الضِّحْكُ وَخَافُوا دَعْوَتَهُ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ عَلَيْكَ بِأَبِي جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ وَعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَالْوَلِيدِ بْنِ عُقْبَةَ وَأُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ وَذَكَرَ السَّابِعَ وَلَمْ أَحْفَظْهُ فَوَالَّذِي بَعَثَ مُحَمَّدًا

ستاسو نه به څوك لاړ شي چه د هغې بچه دان راوړي او هغې لره كيږدي د محمد ﷺ د دواړو اولو په مينځ كښې هر كله چه هغه سجدے له لاړ شي. دد ے په اوريدو يو بدبخت شقي پاڅيدۀ (عقبه بن ابى معيط ملعون او رائے وړو هغې لره. او رسول الله ﷺ چه هر كله سجدے له لاړو نو د هغوى د دواړو اوګو په مينځ كښې ئے هغه بچه دان كيښودو. بيا هغه خلقو خندا شروع كړه. او د خندا د وجې نه په يو بل باندے پريوتل. او زۀ ولاړوم ماليدل كچرے څما زور وے (يعنى څما مددګار خلق وے) نو ما به د حضرت د شانه هغه شے غورځولے وو او رسول الله ﷺ په دغه سجده پروت وو. هغوى سر نۀ اوچتوو ترد ے پورى چه يو سړے لاړو او هغۀ فاطمه خبره كړه. او هغه راغله دغه وخت معشومه وه. او د حضرت ﷺ د شانه ئے هغه اوغورځوو. بيا د هغه خلقو طرفته راغله او هغوى ته ئے بد رد اووے. حضرت ﷺ چه به هر كله دعا كوله نو درے ځله به ئے كوله او هر كله چه به ئے د الله نه څۀ غوښتل نو درے ځله به ئے غوښتل. بيا حضرت ﷺ درے ځله اوفرمائيل الله قريشو له سزا وركړه. هغه خلقو چه هر كله د حضرت ﷺ آواز واوريدو نو خندائے لاړه د حضرت ﷺ د خيرونه اوريدلو سره. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل اے الله ته پوهه شه د ابوجهل بن هشام، او عتبه بن ربيعه او شيبه بن ربيعه او وليد بن عقبه او أميه بن خلف او عقبه بن ابى معيط سره او د اوم نوم ما ته ياد نۀ دے (د بخارى په روايت كښې د هغۀ نوم عماره بن وليد ذكر كړے شوے دے) بيا قسم دے په هغه ذات چا چه محمد ﷺ په رښتيا پيغمبر راليږلے دے. چه ما هغه ټولو لره د چا چه پيغمبر نوم اخستے وو د بدر په ورځ پريوتى (مردار شوى) اوليدل چه

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَقِّ لَقَدْ رَأَيْتُ الَّذِينَ سَمَّى صَرْعَى يَوْمَ بَدْرٍ ثُمَّ سُحِبُوا إِلَى الْقَلِيبِ قَلِيبِ بَدْرٍ قَالَ أَبُو إِسْحَقَ الْوَلِيدُ بْنُ عُقْبَةَ غَلَطٌ فِي هٰذَا الْحَدِيثِ

د هغوی لاشونه په راښکودو سره په کوهی کښې اوغورځولے شو کوم چه په بدر کښې وو (لکه څنګه چه سپی لره په راښکودو غورځولے شي) ابو اسحق وئیلی دی د ولید بن عقبه نوم غلط دے په دے حدیث کښې[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدٌ وَحَوْلَهُ نَاسٌ مِنْ قُرَيْشٍ إِذْ جَاءَ عُقْبَةُ بْنُ أَبِي مُعَيْطٍ بِسَلَا جَزُورٍ فَقَذَفَهُ عَلَى ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَرْفَعْ رَأْسَهُ فَجَاءَتْ فَاطِمَةُ فَأَخَذَتْهُ عَنْ ظَهْرِهِ وَدَعَتْ عَلَى مَنْ صَنَعَ ذٰلِكَ فَقَالَ اللّٰهُمَّ عَلَيْكَ الْمَلَأَ مِنْ قُرَيْشٍ أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ وَعُتْبَةَ بْنَ رَبِيعَةَ وَعُقْبَةَ بْنَ أَبِي مُعَيْطٍ وَشَيْبَةَ بْنَ رَبِيعَةَ وَأُمَيَّةَ بْنَ خَلَفٍ أَوْ أُبَيَّ بْنَ خَلَفٍ شُعْبَةُ الشَّاكُّ قَالَ فَلَقَدْ رَأَيْتُهُمْ قُتِلُوا يَوْمَ بَدْرٍ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے رسول الله ﷺ په سجده پروت وو او د هغوی نه چاپیره د قریشو خو تنه وو. په دے کښې ولید بن ابی معیط راغے. او د اوښے لرے ئے راوړو. او د حضرت ﷺ په شا مبارکه ئے اوغورځوو. حضرت ﷺ خپل سر نهٔ شو اوچتولے بیا حضرت فاطمه راغله او د حضرت ﷺ د شانه ئے هغه لریا لرے کړو او د داسے کولو والا دپاره ئے خیرے اوکړے. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل یا الله ته سزا ورکړه د قریشو دے ټولې لره چه ابوجهل بن هشام دے او عتبه بن ربیعه او شیبه بن ربیعه او عقبه بن ابی معیط او امیه بن خلف یا اُبیّ بن خلف (په دوی کښې شعبه راوی دد دے حدیث نه شك دے) عبدالله بن مسعود وائی بیا ما دغه ټولو خلقو لره اولیدل چه اووژلے شو د بدر په ورځ او کوهی ته اوغورځولے

---

[1] نووی وائی په دے حدیث کښې دا اشکال دے چه هر کله پلیتی ئے د حضرت ﷺ په شا کیښوده نو حضرت ﷺ مونځ څنګه کولو قاضی عیاض ددے دا جواب ورکړے دے چه بچه دان د اوښے پلیت نهٔ دے. په دے واسطه چه بچے او لوندوالے د هغے د بدن پاك دے. او په لری کښې دغه څیزونه وی پلیته خو وینه ده. او دا جواب د امام مالك په مذهب باندے جوړ دے چه د حلال ځناور بول پاك دی زمونږه او د ابوحنیفه مذهب دادے چه بچه دان نجس دے او د قاضی عیاض جواب ضعیف او باطل دے. ځکه چه په لری یا بچه دان کښې وینه هم وی. دویم دا چه هغه د مشرکانو ذبیحه وه. او هغه پلیته ده. دغه شان د هغے غوښه او ټول اجزاء ناپاك دی. جواب ددے دادے چه حضرت ﷺ ددے نه خبر نهٔ وو چه په شا باندے ئے څهٔ ایخودی شوی دی. ځکه حضرت ﷺ په سجده کښې مصروف وو (انتهی)

په دے روایت کښې د ولید بن عقبه چه کوم نوم راغلے دے هغه غلط دے بلکه صحیح ولید بن عتبه دے او بخاری په صحیح کښې دغسے روایت کړے دے. او ولید بن عقبه خو دغه وخت موجود نهٔ وو. یا وو به خو ماشوم به وو. ځکه چه په کومه ورځ مکه فتح شوه نو هغه د رسول الله ﷺ مخے له راوستے شو په سر باندے د ملاس راښکودلو دپاره. دغه وخت هغه خوانے ته نزدے وو. (نووی)

فَأُلْقُوا فِي بِئْرٍ غَيْرَ أَنَّ أُمَيَّةَ أَوْ أُبَيًّا تَقَطَّعَتْ أَوْصَالُهُ فَلَمْ يُلْقَ فِي الْبِئْرِ

شو. مګر د امیه یا اُبيّ اوس ټکړے ټکړے جدا شوے وو ځکه چه کوهي ته او نهٔ غورځولے شو[1].

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَزَادَ وَكَانَ يَسْتَحِبُّ ثَلَاثًا يَقُولُ اللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ اَللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ اَللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ ثَلَاثًا وَذَكَرَ فِيهِمُ الْوَلِيدَ بْنَ عُتْبَةَ وَأُمَيَّةَ بْنَ خَلَفٍ وَلَمْ يَشُكَّ قَالَ أَبُو إِسْحٰقَ وَنَسِيتُ السَّابِعَ

د ابو اسحٰق نه په دے اسناد سره د پورتني حديث پشان روايت دے او په دے کښې دا زياته ده چه آيا حضرت ﷺ به درے ځله دُعا غوره کوله په عاجزئ سره. حضرت ﷺ به فرمائيل يا الله تهٔ د قريشو سره پوهه شے. يا الله تهٔ د قريشو سره پوهه شے. يا الله تهٔ د قريشو سره پوهه شے او د وليد بن عتبه نوم دے په ځائے د وليد بن عقبه او د اميه بن خلف نوم دے. او په دے کښې شك نشته. ابواسحٰقؒ وئيلي دی. د وم سړی نوم ځما نه هير شوے دے.

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِؓ قَالَ اسْتَقْبَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ فَدَعَا عَلَى سِتَّةِ نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ فِيهِمْ أَبُو جَهْلٍ وَأُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ وَعُتْبَةُ بْنُ رَبِيعَةَ وَشَيْبَةُ بْنُ رَبِيعَةَ وَعُقْبَةُ بْنُ أَبِي مُعَيْطٍ فَأُقْسِمُ بِاللّٰهِ لَقَدْ رَأَيْتُهُمْ صَرْعَى عَلَى بَدْرٍ قَدْ غَيَّرَتْهُمُ الشَّمْسُ وَكَانَ يَوْمًا حَارًّا

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د کعبے طرفته مخ کړو او د قريشو د شپږو سړو دپاره ئے ښيرے اوغوښتے. د ابوجهل او اُميه بن خلف او عتبه بن ربيعه او د شيبه بن ربيعه او د عقبه بن ابی معيط دپاره. بيا عبد الله بن مسعودؓ قسم اوخوړو چه ما دغه خلقو لره د بدر په ورځ پراتهٔ اوليدل چه نمر وراستهٔ کړی وو ځکه چه هغه د ګرمئ ورځ وه.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَتْهُ أَنَّهَا قَالَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ

د ام المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه هغوی عرض اوکړو يا رسول اللهﷺ! پتاسو باندے د أحد د ورځے نه هم چرته زياته سخته ورځ تيره شوے ده؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل .ما ډير افت اوچت کړے دے

---

[1] نوویؒ وائی د حضرت ﷺ دعا. د هغوئ په باب کښې قبوله شوه او هغوی کوهي ته اوغورځولے شو په ذلت سره او دفن نهٔ کړے شو. ځکه چه د حربئ دفن واجب نهٔ دے. بلکه په ځنګل کښې د. اوغورځولے شي خو چه په کوم صورت کښې د هغهٔ د بدبوئ نه خلقو ته د تکليف يره وی نو په خاورو کښې د ئے پټ کړی. قاضی عياضؒ وائی په دی روايت باندے دا اعتراض شوے دے چه عماره بن وليد هم په دغه خلقو کښې وو او هغه د بدر په ورځ باداني او نهٔ وژلے شو بلکه حبشو ته لاړو او مړ شو. د هغے جواب دا دے چه مراد د هغوی نه زيات خلق دي. ځکه چه عقبه بن ابی معيط هم د بدر په ورځ نهٔ و وژلے شوے بلکه قيد شوے وو. بيا عرق انطبيه ته راغے او رسول الله ﷺ هغه قتل کړو. انتهی.

أَتَى عَلَيْكَ يَوْمٌ كَانَ أَشَدَّ مِنْ يَوْمِ أُحُدٍ فَقَالَ لَقَدْ لَقِيتُ مِنْ قَوْمِكِ وَكَانَ أَشَدَّ مَا لَقِيتُ مِنْهُمْ يَوْمَ الْعَقَبَةِ إِذْ عَرَضْتُ نَفْسِي عَلَى ابْنِ عَبْدِ يَالِيلَ بْنِ عَبْدِ كُلَالٍ فَلَمْ يُجِبْنِي إِلَى مَا أَرَدْتُ فَانْطَلَقْتُ وَأَنَا مَهْمُومٌ عَلَى وَجْهِي فَلَمْ أَسْتَفِقْ إِلَّا بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا أَنَا بِسَحَابَةٍ قَدْ أَظَلَّتْنِي فَنَظَرْتُ فَإِذَا فِيهَا جِبْرِيلُ فَنَادَانِي فَقَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ لَكَ وَمَا رَدُّوا عَلَيْكَ وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيهِمْ قَالَ فَنَادَانِي مَلَكُ الْجِبَالِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ لَكَ وَأَنَا مَلَكُ الْجِبَالِ وَقَدْ بَعَثَنِي رَبُّكَ إِلَيْكَ لِتَأْمُرَنِي بِأَمْرِكَ فَمَا شِئْتَ إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمُ الْأَخْشَبَيْنِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللهُ مِنْ أَصْلَابِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللهَ وَحْدَهُ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا

ستا د قوم نه (یعنی د قریشو د قوم نه) او د ټولو نه زیاته سخته ما ته د عقبې په ورځ را اورسیده چه ما د عبدیا لیل په خوئ باندے خپل ځان پیش کړو (یعنی هغهٔ ته مے د مسلمانیدو اووے) هغهٔ خماوینا او نهٔ منله زهٔ روان شوم او خما په مخ باندے تکلیف وریدهٔ بیا ما ته هوش رانغے (یعنی یو شان په تکلیف کښې لازم) مگر کله چه قرن الثعالب ته اورسیدم (دا د یو مقام نوم دے د کوم ځائے نه چه د نجد خلق احرام تړی د مکے نه د دوه منزله په فاصله باندے) نو ما خپل سر اوچت کړو ځهٔ گورم چه د وریځے یوه ټکړه په ما باندے سورے شوه او په هغے کښې جبرائیل ؑ وو. هغوی ما ته آواز اوکړو او اوئے وئیل چه الله جل جلاله ستا د قوم وینا واوریده او څهٔ چه هغوی تاسو ته جواب درکړو. نو د غرونو فرښته ئے تاته رااولیږله تهٔ چه څهٔ غواړے دوی ته حکم اوکړه. بیا هغه فرښتے ما ته آواز اوکړو او سلام ئے اوکړو او اوئے وئیل اے محمد ؐ الله تعالی ستا د قوم وینا واوریدله او زهٔ د غرونو فرښته یم. او زهٔ ستاسو پروردگار تاسو ته رالیږلے یم د دے دپاره چه تهٔ څهٔ حکم کوے زهٔ به ئے کوم څنګه چه ستاسو خوښه وی. کهٔ تهٔ غواړے نو زهٔ به دے دواړو غرونو لره په دوی باندے (یعنی د ابوقبیس غر او کوم چه د هغے مخے ته په مکه کښې دے) یو ځائے کړم (او دوی به پکښې اوچقوم) حضرت ؐ هغهٔ ته اوفرمائیل (زهٔ دا نهٔ غواړم) بلکه خما امید دے چه الله تعالی به د دوی په اولاد کښې هغه خلقو لره پیدا کړی چه هغه به خاص د الله عبادت کوی او د هغهٔ سره به هیڅ لره نهٔ شرکوی. (سبحٰن الله څومره مینه وه د حضرت ؐ په خپل امت باندے چه هغوی به ورته تکلیف ورکوو او حضرت ؐ به د هغوی د تکلیف پرواه نهٔ ساتله)

عَنْ جُنْدَبِ بْنِ سُفْيَانَ قَالَ دَمِيَتْ

د جندب بن سفیان نه روایت دے په یو جنګ کښې د رسول الله ؐ

إِصْبَعُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ تِلْكَ الْمَشَاهِدِ فَقَالَ هَلْ أَنْتِ إِلاَّ إِصْبَعٌ دَمِيتِ وَفِي سَبِيلِ اللهِ مَا لَقِيتِ

گوته مبارکه زخمي شوه او وينه ترې رااووته حضرت ﷺ اوفرمائيل نشته دے مگر يوه گوته چه د هغې نه وينه رااووته. او د الله تعالى په لاره کښې تا ته دغه تکليف راغے (مطلب دادے چه د الله پاك په لاره کښې دومره غوندے تکليف بے حقيقته نۀ دے. او دا شعر نۀ دے ځنگه چه پورته تير شو)

عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَارٍ فَنُكِبَتْ إِصْبَعُهُ

د اسود بن قيس نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ په غار کښې وو (قاضي عياض وائي دا غلطي ده د غار په ځائے به د غازي لفظ وي يا د غار نه مراد لښکر دے) د حضرت ﷺ گوتې ته گزار اورسيدۀ.

عَنْ جُنْدُبٍ يَقُولُ أَبْطَأَ جِبْرِيلُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ قَدْ وُدِّعَ مُحَمَّدٌ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى

د جندب نه روايت دے وائي چه جبرائيل ځۀ ورځې حصار شو د حضرت ﷺ خواله په راتلو کښې نو مشرکانو به وئيل الله تعالى پريخودو محمد ﷺ لره دغه وخت دا سورة نازل کړو الله تعالى. چه قسم دے په وخت د څاښت او په شپه چه کله پرده واچوي. نۀ ئے پريخودے تۀ رب ستا او نۀ ئے خفه کړے ئے

عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدَبَ بْنَ سُفْيَانَ يَقُولُ اشْتَكَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا فَجَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي لأَرْجُو أَنْ يَكُونَ شَيْطَانُكَ قَدْ تَرَكَكَ لَمْ أَرَهُ قَرِبَكَ مُنْذُ لَيْلَتَيْنِ أَوْ ثَلاَثٍ قَالَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى

د اسود بن قيس نه روايت دے وائي چه ما د جندب بن سفيان نه اوريدلي دي چه وئيل ئے رسول الله ﷺ ناجوړه شو نو دوه درے شپے پانۀ ځيدۀ. بيا يوه ښځه راغله (عوراء بن حرب د ابوسفيان خور د ابولهب ښځه حمالة الحطب) او اوئے وئيل يا مُحمده زۀ پوهه يم چه ستا شيطان تۀ پريخودے ئے (دا دغه شيطانے د خندا نه اووے) زۀ گورم چه دوه درے شپے ستا خواله رانغے. پس الله تعالى دا سورة نازل کړو. وَالضُّحَى د آخره پورے. (دد ے معنى پورته تيره شوه)

عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِهِمَا

د اسود بن قيس نه په دے اسناد سره د پورتنو حديثونو پشان مروى دے.

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى

د اسامه بن زيد نه روايت دے چه رسول الله ﷺ په يو خر باندے سور

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ حِمَارًا عَلَيْهِ إِكَافٌ تَحْتَهُ قَطِيفَةٌ فَدَكِيَّةٌ وَأَرْدَفَ وَرَاءَهُ أُسَامَةَ وَهُوَ يَعُودُ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ فِي بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ وَذَاكَ قَبْلَ وَقْعَةِ بَدْرٍ حَتَّى مَرَّ بِمَجْلِسٍ فِيهِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالْيَهُودِ فِيهِمْ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيٍّ وَفِي الْمَجْلِسِ عَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ فَلَمَّا غَشِيَتِ الْمَجْلِسَ عَجَاجَةُ الدَّابَّةِ خَمَّرَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيٍّ أَنْفَهُ بِرِدَائِهِ ثُمَّ قَالَ لَا تُغَبِّرُوا عَلَيْنَا فَسَلَّمَ عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ وَقَفَ فَنَزَلَ فَدَعَاهُمْ إِلَى اللهِ وَقَرَأَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنَ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيٍّ أَيُّهَا الْمَرْءُ لَا أَحْسَنَ مِنْ هَذَا إِنْ كَانَ مَا تَقُولُ حَقًّا فَلَا تُؤْذِنَا فِي مَجَالِسِنَا وَارْجِعْ إِلَى رَحْلِكَ فَمَنْ جَاءَكَ مِنَّا فَاقْصُصْ عَلَيْهِ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ اغْشَنَا فِي مَجَالِسِنَا فَإِنَّا نُحِبُّ ذَلِكَ قَالَ فَاسْتَبَّ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْيَهُودُ حَتَّى هَمُّوا أَنْ يَتَوَاثَبُوا فَلَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّضُهُمْ ثُمَّ رَكِبَ دَابَّتَهُ حَتَّى دَخَلَ عَلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فَقَالَ أَيْ سَعْدُ أَلَمْ تَسْمَعْ إِلَى مَا قَالَ أَبُو حُبَابٍ يُرِيدُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أُبَيٍّ قَالَ كَذَا وَكَذَا

شو په هغهٔ باندے يوه كته وه. او لاندے د هغے نه د فدك يو څادر وو (فدك يو مشهور ښار وو د مدينے نه په دوه درے منزله باندے) او د حضرت ﷺ سره روستو په دغه خر باندے اُسامه بن زيد ؓ هم وو. هغوی د سعد بن عباده د بيمار پُرسئ دپاره د بنی حارث بن خزرج محلے ته تشريف يوړو. او دا قصه د بدر جنګ نه د مخکښې وخت ده. تردے پورے چه حضرت ﷺ تير شو په يو مجلس باندے چه په هغے کښې د هر قسمه خلق يعنی مسلمانان او مشرکان بت پرست او يهود شريك وو. په دغه خلقو کښې عبدا الله بن ابیٔ (مشهور منافق) هم وو. او عبد الله بن رواحه هم وو. هر كله چه دغه مجسل ته د خناورو ګرد وراورسيده نو عبد الله بن أبیٔ خپله پوزه په څادر بنده کړه. او اوئے وئيل په مونږ باندے ګردونه مهٔ الوزوئ رسول الله ﷺ هغه خلقو ته سلام اوکړو. بيا اودريدو او د خر نه راکوز شو او هغوی ته ئے د الله په طرف دعوت ورکړو او قران ئے ورته واوروو. عبد الله بن أبیٔ اووے اے سړيه! د دے نه ښه څهٔ نشته يا د دے نه خو دا غوره وه چه تهٔ په خپل کور کښې ناست وے کچرے ستا وينا حقه وی نو مهٔ تنګوه مونږ لره زمونږ په مجلسونو کښې او واپس لاړ شه خپل کور ته بيا چه څوك زمونږ نه ستا خواله درځی نو هغه ته دا قصه اوره وه. عبد الله بن رواحه اووے مونږ ته ئے ضرور زمونږ په مجلسونو کښې بيانوه. ځکه چه مونږ دے خبرو لره خوښه وو. اسامه وائی چه بيا مسلمانانو او مشرکانو او يهودو کنځل وئيل شروع کړل تردے پورے چه يو د بل د وهلو اراده اوکړه. او رسول الله ﷺ به دغه جهګړه غلے کوله آخر حضرت ﷺ په خپل خناور باندے سور شو. او د سعد بن عباده خواله لاړهٔ. حضرت ﷺ اوفرمائيل اے سعده تا وانهٔ وريدلے د ابو احباب (دا د عبد الله بن أبیٔ کنيت دے) خبرے. هغه

قَالَ اعْفُ عَنْهُ يَا رَسُولَ اللهِ وَاصْفَحْ فَوَاللهِ لَقَدْ أَعْطَاكَ اللهُ الَّذِي أَعْطَاكَ وَلَقَدْ اصْطَلَحَ أَهْلُ هٰذِهِ الْبُحَيْرَةِ أَنْ يَتَوَّجُوهُ فَيُعَصِّبُوهُ بِالْعِصَابَةِ فَلَمَّا رَدَّ اللهُ ذٰلِكَ بِالْحَقِّ الَّذِي أَعْطَاكَهُ شَرِقَ بِذٰلِكَ فَذٰلِكَ فَعَلَ بِهِ مَا رَأَيْتَ فَعَفَا عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

داسې داسې خبرې اوکړې. سعد اووې تاسو ئې معاف کړئ یا رسول الله ﷺ او پرېږدوئ ئې. قسم دې په الله باندې الله چه تاله څۀ درکړی هغۀ ئې درکړی دی او دې ښار والاؤ خودا مقرر کړې وه چه عبد الله بن أبيّ ته تاج پسر کړی او پټکې ورته اوتړی (یعنی هغه د دې ځائې بادشاه کړی) هر کله چه الله تعالٰی ورنۀ کړو دۀ لره هغه حق کوم چه ئې تاله درکړو نو دې اوسیزلې شو (د حسد په وجه) او دغه حسد د هغۀ نه دا اوکړل کوم چه تاسو اولیدل بیا رسول الله ﷺ هغۀ لره معاف کړو [1].

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ وَزَادَ وَذٰلِكَ قَبْلَ أَنْ يُسْلِمَ عَبْدُ اللهِ

د ابن شهاب نه په دې اسناد سره د پورتنی حدیث پشان مروی دې. په دې کښې دومره زیاته ده چه عبد الله بن أبيّ د هغه وخته پورې مسلمان شوې نۀوو (یعنی ظاهری طور باندې هم مسلمان شوې نۀوو. عارف)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَتَيْتَ عَبْدَ اللهِ بْنَ أُبَيٍّ قَالَ فَانْطَلَقَ إِلَيْهِ وَرَكِبَ حِمَارًا وَانْطَلَقَ الْمُسْلِمُونَ وَهِيَ أَرْضٌ سَبِخَةٌ فَلَمَّا أَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِلَيْكَ عَنِّي فَوَاللهِ لَقَدْ آذَانِي نَتْنُ حِمَارِكَ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَاللهِ لَحِمَارُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْيَبُ رِيحًا مِنْكَ قَالَ فَغَضِبَ لِعَبْدِ اللهِ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهِ قَالَ فَغَضِبَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَصْحَابُهُ قَالَ فَكَانَ بَيْنَهُمْ ضَرْبٌ بِالْجَرِيدِ وَبِالْأَيْدِي

د انس بن مالک نه روایت وائی چه رسول الله ﷺ ته خلقو عرض اوکړو چه کۀ تاسو د عبد الله بن أبيّ خواله تشریف ورلې (او هغۀ ته مو د عوت د اسلام ورکولې) حضرت ﷺ په یو خر باندې سور شو او د هغۀ خواله روان شو. او مسلمانان هم روان شو هغه زمکه ښوره وه. هر کله چه رسول الله ﷺ د هغۀ خواله راغې نو هغۀ اووې لرې شه ځما د خوانه قسم په خدائې چه ستا د خر بوئی زۀ خفه کړمه یو انصاری اووې قسم په خدائې د حضرت ﷺ د خر بوئی ستا د بوئی نه غوره دې. ددې په اوریدو د عبد الله په قوم کښې یو سړې په غصه شو. او د دوارو طرفو خلق غصه شو او یو بل ئې وهلو په لرګو او لاسونو او پیزارونو سره. انسؓ وائی بیا مونږ ته خبر رااورسیدو چه دا ایت ﴿وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا﴾

---

[1] او هغه موذی د مرګه پورې منافق پاتې شو چرته هم د زړۀ د اخلاصه مسلمان نۀ شو خو حضرت ﷺ هغۀ لره چرته هم تنګ نۀ کړو بلکه د هغۀ سفارش ئې قبول کړو د بنی قینقاع په باره کښې او هر کله چه هغه مړ شو نو د هغۀ د خوئ په درخواست باندې حضرت ﷺ هغۀ ته د اغوستولو د پاره خپل قمیص ورکړو.

وَبِالنِّعَالِ قَالَ فَبَلَغَنَا أَنَّهَا نَزَلَتْ فِيهِمْ وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا

هغوی په باب کښې نازل شو. يعنې کچرے دوه ډلے د مسلمانانو په خپلو کښې جنګ کوي نو صلحه کوه په مينځ ددغه دواړو کښې د آخره پورے.

بَاب قَتْلِ أَبِي جَهْلٍ

باب: د ابوجهل مردود د قتلولو بيان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَنْظُرُ لَنَا مَا صَنَعَ أَبُو جَهْلٍ فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَاءَ حَتَّى بَرَكَ قَالَ فَأَخَذَ بِلِحْيَتِهِ فَقَالَ آنْتَ أَبُو جَهْلٍ فَقَالَ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ أَوْ قَالَ قَتَلَهُ قَوْمُهُ قَالَ وَقَالَ أَبُو مِجْلَزٍ قَالَ أَبُو جَهْلٍ فَلَوْ غَيْرُ أَكَّارٍ قَتَلَنِي

د انس بن مالك نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل څوك به د ابوجهل خبر راوړي ددے په اوريدو. ابن مسعود لاړو چه اوئې کتل نو د عفراء ځامنو هغه داسے وهلے يخ شوے دے (يعنې مرګ ته نزدے شوے وو) ابن مسعود د هغهٔ ږيره اونيوه او ورته ئې اووے ته ابوجهل ئې. هغهٔ اووے ولے ته زيات ئې د هغه سړي نه چا لره چه تاسو قتل کړے دے (يعنې څما نه زيات په قريشو کښې د لوئې درجے څوك نشته) ياد هغهٔ قوم وژلے دے (مطلب دادے کچرے تا زهٔ قتل کړم نو مالره څهٔ ذلت نهٔ دے) ابو مجلز وائي ابوجهل اووے کاش چه د زميدار نه سوا بل چا زهٔ وژلے وے[1].

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَعْلَمُ لِي مَا فَعَلَ أَبُو جَهْلٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَقَوْلِ أَبِي مِجْلَزٍ كَمَا ذَكَرَهُ إِسْمَعِيلُ

د حضرت انس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ما ته به د ابوجهل په باره کښې څوك اووائي. مخکښې د پورتني حديث پشان حديث ذکر کړے شو[2].

[1] مردود د مرګ په وخت هم د جهل او بے وقوفۍ په خيال کښې وو. او مطلب ددے دا وو چه د عفراء ځامن انصار وو او هغوی به پټی اوباغونه لرل نو زميندار شو د ابوجهل په نز دا خلق ذليله وو. نو هغه آرزو کوله چه افسوس زهٔ د دوی دلاسه نهٔ وے وژلے شوے. د چا معزز سړی دلاسه وژلے شوے وے. نو څما په شان باندے به داغ نهٔ وو لګيدلے. په يو روايت کښې دی چه ابوجهل تپوس اوکړو چا فتح اوکړه. ابن مسعود اووے الله او دهغهٔ رسول. بيائے د هغهٔ نه سر کټ کړو او رائے وړو او د رسول الله ﷺ په مخکښې ئے اوغورځوو. نو حضرت ﷺ د الله تعالی شکر ادا کړو او اوئے فرمائيل چه دا ددے اُمت فرعون وو.

[2] نووی وئيلی دی حضرت ﷺ محمد بن مسلمه لره د کعب بن اشرف د قتل دپاره اوليږلو. او هغوی هغهٔ لره په مکر او دهوکه سره قتل کړو. او ددے وجه دا وه چه کعب به د رسول الله ﷺ سره وعده خلافی کوله او د هغوی سپکاوے به ئے کولو. او د هغوی بد به ئے وئيلو. او مخکښې ئے دا اقرار کړے وو. چه ستا د شمن ته به مدد نهٔ ورکوم او بيا د دښمنانو سره شريك شو. او دا قتل د حضرت ﷺ د طرفنه خلاف وعده نهٔ وو. او د حضرت علی په مجلس کښې يو سړی اووے چه د کعب قتل غدر (يعنې دهوکه) وه چه هغوی د هغهٔ ځټ

بَاب قَتْلِ كَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ طَاغُوتِ الْيَهُودِ

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ فَإِنَّهُ قَدْ آذَى اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ يَا رَسُولَ اللهِ أَتُحِبُّ أَنْ أَقْتُلَهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ ائْذَنْ لِي فَلْأَقُلْ قَالَ قُلْ فَأَتَاهُ فَقَالَ لَهُ وَذَكَرَ مَا بَيْنَهُمَا وَقَالَ إِنَّ هَذَا الرَّجُلَ قَدْ أَرَادَ صَدَقَةً وَقَدْ عَنَّانَا فَلَمَّا سَمِعَهُ قَالَ وَأَيْضًا وَاللهِ لَتَمَلُّنَّهُ قَالَ إِنَّا قَدْ اتَّبَعْنَاهُ الْآنَ وَنَكْرَهُ أَنْ نَدَعَهُ حَتَّى نَنْظُرَ إِلَى أَيِّ شَيْءٍ يَصِيرُ أَمْرُهُ قَالَ وَقَدْ أَرَدْتُ أَنْ تُسْلِفَنِي سَلَفًا قَالَ فَمَا تَرْهَنُنِي قَالَ مَا تُرِيدُ قَالَ تَرْهَنُنِي نِسَاءَكُمْ قَالَ أَنْتَ أَجْمَلُ الْعَرَبِ أَنَرْهَنُكَ نِسَاءَنَا قَالَ لَهُ تَرْهَنُونِي أَوْلَادَكُمْ قَالَ يُسَبُّ ابْنُ أَحَدِنَا فَيُقَالُ رُهِنَ فِي وَسْقَيْنِ مِنْ تَمْرٍ وَلَكِنْ نَرْهَنُكَ اللَّأْمَةَ يَعْنِي السِّلَاحَ قَالَ فَنَعَمْ وَوَاعَدَهُ أَنْ يَأْتِيَهُ بِالْحَارِثِ وَأَبِي عَبْسِ بْنِ جَبْرٍ وَعَبَّادِ بْنِ بِشْرٍ قَالَ

باب: كعب بن اشرف د يهودو د پير قتل

د حضرت جابرؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل څوك به اووژنی كعب بن اشرف لره بیشکه هغه ضرر ورکوی الله ته او د هغهٔ رسول ته (په سیرة ابن هشام کښ دی چه كعب رومبے مکے ته لاړو او مشرکانو ته ئے د جنګ کولو ترغیب ورکړو د حضرتﷺ سره بیا مدینے ته راغے او د مسلمانانو په ښځو باندے ئے غزلے وئیل د سپکاوی کولو د محمد رسول اللهﷺ دپاره) محمد بن مسلمه اووے. آیا تاسو غواړئ چه زهٔ د اووژنم هغهٔ لره. حضرتﷺ اوفرمائیل آو. محمد بن مسلمه اووے بیا خو ماله دوینا کولو اجازت راکړئ (یعنی زهٔ به د هغهٔ سره چه څنګه مصلحت وی هغسے خبرے کوم اګر که په ظاهر کښ ستاسو بد هم وی ددے دپاره چه هغه په ما اعتبار اوکړی) حضرتﷺ اوفرمائیل وایه (چه څهٔ مصلحت وی) بیا محمد بن مسلمه د كعب سره خبرے شروع کړے او خپله او د حضرتﷺ معامله ئے ورته بیان کړه. او اوئے وئیل چه دے سړی (یعنی حضرتﷺ) د صدقے اخستلو اراده کړے ده او مونږ ئے په تکلیف کښ اچولی یو (دا تعریض دے چه ددے ظاهری معنی بله ده او په اصل کښ مطلب ئے صحیح دے چه د شرع احکام ئے په مونږه باندے جاری کړل او په هغے د عمل کولو په وجه نفس ته تکلیف وی) هر کله چه كعب دا واوریدل نو اوئے وئیل چه اوس به نور هم په خدائے قسم چه تاسو ته تکلیف شی. محمد بن مسلمه اووے اوس خو مونږ د هغوی سره شریك شوی یو او اوس د هغوی پریخودل راته هم بد معلومیری د کومے

اووهو خکه چه دهوکه به هله وی چه د امن ورکولو نه پس ئے قتل کړے وے او ددے حدیث نه دا راواوخی چه چا ته د اسلام دعوت وررسیدلے وی د هغهٔ قتل په فریب او چل سره هم صحیح دے. د بار بار دعوت ورکولو حاجت نشته دے

فَجَاءُوا فَدَعَوْهُ لَيْلًا فَنَزَلَ إِلَيْهِمْ قَالَ سُفْيَانُ قَالَ غَيْرُ عَمْرٍو قَالَتْ لَهُ امْرَأَتُهُ إِنِّي لَأَسْمَعُ صَوْتًا كَأَنَّهُ صَوْتُ دَمٍ قَالَ إِنَّمَا هَذَا مُحَمَّدٌ بْنُ مَسْلَمَةَ وَرَضِيعُهُ وَأَبُو نَائِلَةَ إِنَّ الْكَرِيمَ لَوْ دُعِيَ إِلَى طَعْنَةٍ لَيْلًا لَأَجَابَ قَالَ مُحَمَّدٌ إِنِّي إِذَا جَاءَ فَسَوْفَ أَمُدُّ يَدِي إِلَى رَأْسِهِ فَإِذَا اسْتَمْكَنْتُ مِنْهُ فَدُونَكُمْ قَالَ فَلَمَّا نَزَلَ نَزَلَ وَهُوَ مُتَوَشِّحٌ فَقَالُوا نَجِدُ مِنْكَ رِيحَ الطِّيبِ قَالَ نَعَمْ تَحْتِي فُلَانَةُ هِيَ أَعْطَرُ نِسَاءِ الْعَرَبِ قَالَ فَتَأْذَنُ لِي أَنْ أَشُمَّ مِنْهُ قَالَ نَعَمْ فَشُمَّ فَتَنَاوَلَ فَشَمَّ ثُمَّ قَالَ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أَعُودَ قَالَ فَاسْتَمْكَنَ مِنْ رَأْسِهِ ثُمَّ قَالَ دُونَكُمْ قَالَ فَقَتَلُوهُ

پورے چه مونږ دے انجام او نه وینو چه څه کیږی محمد بن مسلمه اووے ستا څه شے مقصد دے په ګانړه کښې کعب وو ښځے راکړی محمد بن مسلمه اووے زه دا غوارم چه ته ماله څه قرضه راکړه کعب اووے بنه ده ته به څه شے ماته ګانړه کړے. محمد بن مسلمه اووے ته خو په عربو کښې د هر چا نه زیات ښکلے یې نو مونږ خپلې ښځې څنګه ستا سره ګانړه کړو؟ کعب اووے بنه ده خپل اولاد راسره ګانړه کړه. محمد اووے زمونږ خامنو ته به بیا خلق پیغور کوی چه د کهجورو په دوه پیمانو کښې ئے ګانړه کړی وې البته مونږ به خپل وسله ستا سو سره ګانړه کړو (په دے کښې مصلحت دا وو چه د وسلے سره به دده مردود خوا له لاړ شو او دے به قتل کړو) کعب اووے بنه ده. بیا محمد بن مسلمه د هغهٔ سره وعده اوکړه. چه زهٔ به حارث (بن اوس) لره او ابو عبس بن جبر عبد الرّحمٰن او عباد بن بشر لره راولم (په سیرة ابن هشام کښې دی چه ابو نائله سلکان بن سلامه بن وقش چه د کعب رضاعی رور وو هغه هم ولاړو) دا ټول خلق راغلل او هغه ئے د شپے راراوغوښتو. هغه راکوز شو (د خپلے بالاخانے نه د عمرو نه علاوه. او په نورو روایتونو کښې دا دی چه د کعب ښځی اووے دا آواز خو خونی آواز معلومیږی کعب اووے واه دا خو محمد بن مسلمه دے او د هغوی رضاعی رور او ابو نائله دے. (امام نووی وئیلی دی صحیح دا دے دی چه محمد بن مسلمه دے او د هغوی رضاعی رور ابو نائله دے. د بخاری په روایت کښې دی چه کعب اووے واه دا خو خما رور محمد بن مسلمه دے او خما سره پئ خوړونکے رور ابو نائله دے. او دغه صحیح دے لکه چه د سیرة ابن هشام نه معلومیږی) او د خوان سړی کار دا دے چه کچرے د شپے د زخمی کولو او وژلو دپاره اوغوښتے شی نو هم د لاړ شی محمد (خپلو ملګرو ته) اووے هر کله چه

كعب راشى نو زۀ به خپل لاس د هغۀ د سر په طرف اوچت كړم. او هر كله چه زۀ په ښه شان د هغۀ سر اونيسم يعنى قبضه ئے كړم نو بيا تاسو خپل كار كوئ بيا كعب راكوز شو څادر لړه د ترخ نه لاندے كړے شوے. دغه خلقو اووے څومره مزيداره خوشبوئى ده كومه چه تالګولے ده. كعب اووے آو څماسره فلانئ ښځه ده هغه د عربو د ټولو ښځو نه زياته خوشبوداره اوسيږي. محمد بن مسلمه اووے كۀ چرے ستا اجازت وى نو چه زۀ ستا سر بوئ كړم كعب اووے ښه ده. محمد د هغۀ سر اونيوۀ او بوئى ئے كړو. بيائے په دوباره اووے كۀ چرے ستا اجازت وى نو چه بيائے بوئى كړم. او په قبضه كښې ئى د هغۀ سر اونيوۀ او ملګرو ته ئے اووے نو هغوى د هغۀ كار ختم كړو.

بَاب غَزْوَةِ خَيْبَرَ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا خَيْبَرَ قَالَ فَصَلَّيْنَا عِنْدَهَا صَلَاةَ الْغَدَاةِ بِغَلَسٍ فَرَكِبَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكِبَ أَبُو طَلْحَةَ وَأَنَا رَدِيفُ أَبِي طَلْحَةَ فَأَجْرَى نَبِيُّ اللهِ ﷺ فِي زُقَاقِ خَيْبَرَ وَإِنَّ رُكْبَتِي لَتَمَسُّ فَخِذَ نَبِيِّ اللهِ ﷺ وَانْحَسَرَ الْإِزَارُ عَنْ فَخِذِ نَبِيِّ اللهِ ﷺ وَإِنِّي لَأَرَى بَيَاضَ فَخِذِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا دَخَلَ الْقَرْيَةَ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ قَالَهَا ثَلَاثَ مِرَارٍ قَالَ وَقَدْ خَرَجَ الْقَوْمُ إِلَى أَعْمَالِهِمْ فَقَالُوا مُحَمَّدٌ قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ وَقَالَ

باب : د خيبر د جنګ بيان

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د خيبر جهاد اوكړو نو مونږ د سحر مونځ د خيبر سره اوكړو په تيارۀ كښې. رسول الله ﷺ سور شو او ابو طلحه هم سور شو او زۀ د هغوى سره سور شوم (په يو اس باندے) رسول الله ﷺ د خيبر په كوڅو كښې آس اوزغلوۀ. او څما زنګون د رسول الله ﷺ د ورون سره اولګيدو. او د حضرت ﷺ د ورون نه لنګ اخوا شو (د اس په زغلولو كښې) نو ما د حضرت ﷺ د ورون سپين والے اوليدۀ. هر كله چه حضرت ﷺ آبادئ ته اورسيدۀ نو حضرت ﷺ اوفرمائيل الله اكبر خراب شو خيبر. مونږ چه هر كله د يو قوم په ميدان كښې كوز شو نو بده وى ورځ د يريدلو خلقو. حضرت ﷺ دا درے ځله اوفرمائيل. دغه وخت يهوديان خپلو كارونو ته تلى وو. هغوى دا وئيل شروع كړل محمد رااورسيدۀ. د

بعض أصحابنا والخميس قال وأصبناها عنوة

لښکر سره انس وائی مونږ خیبر په زور د توره فتح کړو[1]

عن أنس قال كنت ردف أبي طلحة يوم خيبر وقدمي تمس قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم قال فأتيناهم حين بزغت الشمس وقد أخرجوا مواشيهم وخرجوا بفؤوسهم ومكاتلهم ومرورهم فقالوا محمد والخميس قال وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم خربت خيبر إنا إذا نزلنا بساحة قوم فساء صباح المنذرين قال فهزمهم الله عز وجل

د انس نه روایت دے وائی چه زه د ابو طلحه سره سور وم د خیبر په ورځ او زما خپے د رسول الله ﷺ د خپو سره لګیدلے. بیا مونږ د نمر د راختو سره هغوی ته اورسیدو. هغوی خپل څاروی بهر راویستلی وو. او تبرګی او زمبیلونه او کودالی (یا رسئ په او نه بانده د ختلو دپاره) ئے راخستی وو او راوتلے وو. پس هغوی اووئیل محمد سره د لښکر رااورسیده. او رسول الله ﷺ اوفرمائیل خراب شو خیبر. مونږ چه کله کوز شو د یو قوم په زمکه کښې نو بد وی سحر د هغه خلقو چه هغه یریدلو. انس وائی بیا الله تعالی شکست ورکړو هغوی له.

عن أنس بن مالك قال لما أتى رسول الله ﷺ خيبر قال إنا إذا نزلنا بساحة قوم فساء صباح المنذرين

د انس بن مالک نه روایت دے. هر کله چه رسول الله ﷺ خیبر ته اورسیده نو دا ایت ئے اولوستو إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ[2]

عن سلمة بن الأكوع قال خرجنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى خيبر فتسيرنا ليلا فقال رجل من القوم لعامر بن الأكوع ألا تسمعنا من هنيهاتك وكان عامر رجلا شاعرا فنزل يحدو بالقوم يقول اللهم لولا

د سلمه بن اکوع نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره خیبر په طرف اووتلو نو د شپے روان وو. چه یو سړی په مونږ کښې اووے اے عامر بن اکوع (خما رور ته) څه خپل اشعار نه وائے (چه لاره لنډه شی او خوند او نه یریږی. نووی وائی شعرونه ټول بد نه وی په دی کښې ښه او بد دواړه وی) او عامر شاعر وو هغه کوز شو او شعر وئیل ئے شروع کړل (نووی وائی چه په سفر کښې دا مستحب

---

[1] نووی وائی دا دے حدیث نه مالکیو دلیل نیولے دے چه ورون ستر نه دے. او زمونږ مذهب دا دے چه هغه ستر دے او دا دے په ثبوت کښې ډیر احادیث راغلی دی او دا دے حدیث دا تاویل دے چه دلته بے اختیاره ورون ښکاره شو د منډے د وجے نه او د انس نظر ناڅاپه په هغے بانده پریوته انتهی

[2] معنی دا دے پوره تیره شوه او دا استشهاد دے د قران مجید نه او هغه جائز دے. لکه څنګه چه حضرت ﷺ د فتح مکے په موقع بتانو ته د راشوکولو په وخت اوفرمائیل. وجاء الحق وزهق الباطل مګر مکروه دی په عامو خبرو کښې یا په مزاح او زړه لګولو کښې ولے چه خلاف دے د عظمت نه

أَنت ما اهتدينا. وَلَا تصدّقنا وَلَا
صلّينا. فاغفر فداءً لك ما اقتفينا.
وثبّت الأقدام إن لاقينا. وألقين
سكينة علينا. إنّا إذا صيح بنا أتينا.
وبالصياح عوّلوا علينا. فَقَالَ رَسُولُ
اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا
السَّائِقُ قَالُوا عَامِرٌ قَالَ يَرْحَمُهُ اللهُ
فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ وَجَبَتْ يَا
رَسُولَ اللهِ لَوْلَا أَمْتَعْتَنَا بِهِ قَالَ فَأَتَيْنَا
خَيْبَرَ فَحَاصَرْنَاهُمْ حَتَّى أَصَابَتْنَا
مَخْمَصَةٌ شَدِيدَةٌ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللهَ
فَتَحَهَا عَلَيْكُمْ قَالَ فَلَمَّا أَمْسَى النَّاسُ
مَسَاءَ الْيَوْمِ الَّذِي فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ
أَوْقَدُوا نِيرَانًا كَثِيرَةً فَقَالَ رَسُولُ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هٰذِهِ النِّيرَانُ
عَلَى أَيِّ شَيْءٍ تُوقِدُونَ فَقَالُوا عَلَى لَحْمٍ
قَالَ أَيِّ لَحْمٍ قَالُوا لَحْمُ حُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
أَهْرِيقُوهَا وَاكْسِرُوهَا فَقَالَ رَجُلٌ أَوْ
يُهْرِيقُوهَا وَيَغْسِلُوهَا فَقَالَ أَوْ ذَاكَ
قَالَ فَلَمَّا تَصَافَّ الْقَوْمُ كَانَ سَيْفُ
عَامِرٍ فِيهِ قِصَرٌ فَتَنَاوَلَ بِهِ سَاقَ يَهُودِيٍّ
لِيَضْرِبَهُ وَيَرْجِعُ ذُبَابُ سَيْفِهِ فَأَصَابَ

دی د زړۀ د لګیدو دپاره او د خناورو د شوشحالولو دپاره اوبښ په دے ونیلوسره دلسے مستیږی چه بیا په تلو سره مطلق نۀ ستړے کیږی

تا کچرے نۀ وے کړے مونږ ته هدایت
چرته به بیا مونږ صدقه زمونږ نۀ وے عادت
مونږه خاص د زړۀ نه شو قربان په تا
مونږه خطا کار یو مونږ ته اوکړے مغفرت
کله مخا مخ چه شو کافرو ته
هلته قدمونه مو محکم کړه په قدرت
خدایه تسلی او تشفی راکړه تۀ
مونږه خو حاضر یو غواړو دا نصرت

سحر وخت کافرانو شور جوړ کړو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا څوک چغے وهی؟ خلقو عرض اوکړو چه عامر بن الاکوع حضرت ﷺ اوفرمائیل الله تعالی د په دۀ باندے رحم اوکړی یو سړی اووے اوس به هغه ضرور شهید کیږی یا رسول الله ﷺ تاسو مونږ ته د هغۀ نه فائده اخستل راکړے وے. سلمه بن اکوع وائی بیا مونږ خیبر ته اورسیدو او مونږه د خیبر خلقو لره محاصره کړل او مونږ ته ډیره سخته لوږه راغله. دد ے نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل الله تعالی خیبر لره ستاسو په لاسونو باندے فتح کړو. سلمه وائی هر کله چه خیبر فتح شو نو خلقو ډیر اُور بل کړو. حضرت ﷺ تپوس اوکړو دا اُور څنګه دے او څۀ پخولے شی. هغوی اووے غوښه پخوی حضرت ﷺ اوفرمائیل د څۀ غوښه ؟ هغوی اووے د کلی د خرو. حضرت ﷺ اوفرمائیل توئ کړئ هغے لره او ماتے کړئ کتوئ د هغے. یو سړی

رُكْبَةَ عَامِرٍ فَمَاتَ مِنْهُ قَالَ فَلَمَّا قَفَلُوا قَالَ سَلَمَةُ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِي قَالَ فَلَمَّا رَآنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاكِتًا قَالَ مَا لَكَ قُلْتُ لَهُ فَدَاكَ أَبِي وَأُمِّي زَعَمُوا أَنَّ عَامِرًا حَبِطَ عَمَلُهُ قَالَ مَنْ قَالَهُ قُلْتُ فُلَانٌ وَفُلَانٌ وَأُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ الْأَنْصَارِيُّ فَقَالَ كَذَبَ مَنْ قَالَهُ إِنَّ لَهُ لَأَجْرَيْنِ وَجَمَعَ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ إِنَّهُ لَجَاهِدٌ مُجَاهِدٌ قَلَّ عَرَبِيٌّ مَشَى بِهَا مِثْلَهُ وَخَالَفَ قُتَيْبَةُ مُحَمَّدًا فِي الْحَدِيثِ فِي حَرْفَيْنِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّادٍ وَأَلْقِ سَكِينَةً عَلَيْنَا

اووے یا رسول الله! کچرے غوبنه اوغورخوو او کتوئ اوبخو حضرت ﷺ اوفرمائیل بنه ده داسے اوکړئ: (نو روستو د حضرت ﷺ رائے بدل شوه په اجتهاد سره یا وحی سره) بیا چه هر کله خلقو صف اوتړلو نو د عامر توره وړه وه. هغهٔ د یو یهودی په خپه ګذار اوکړو نو توره واپس د هغهٔ په زنګون اولګیده. او هغه د دغه زخم نه مړ شو. هر کله چه خلق واپس شو نو سلمه وائی هغه ځما لاس نیولے وو. رسول الله ﷺ ما ته غلی غلی کتل. حضرت ﷺ تپوس اوکړو اے سلمه ستا څهٔ حال دے. ما عرض اوکړو یا رسول الله! ځما پلار او مور د تا نه قربان شی خلق وائی چه د عامر عمل لغوه شو (ځکه چه هغه د خپل زخم نه پخپله مړ شو) حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك وائی؟ ما اووے فلانے فلانے او اُسید بن حفیر انصاری وائی. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه هغوی غلط وائی د عامر دوچند ثواب اوشو (یو خو د اسلام او عبادت او دویم د جهاد) او حضرت ﷺ خپلو دواړو ګوتو لره میلاؤ کړے او اوئے فرمائیل چه هغه مجاهد دے (یعنی جهاد کونکے) داسے به ډیر کم عرب وی چا چه داسے جنګ کړے وی ددهٔ په مثل یا ددهٔ مشابه عرب به ډیر کم وی[1].

[1] نووی ونیلی دی په خدائے باندے فدا کیدل په دے کښ دا اشکال دے چه فدا په هغه بنده باندے کیدے شی چه په هغهٔ باندے څهٔ بلا راتلے شی. او په الله تعالی باندے څهٔ افت نهٔ شی راتلے. او کیدےشی چه دا لفظ بے ارادے د خلے نه وتلے وی. لکه چه ونیلے شی قاتله الله. او کیدے شی مراد د شاعر د فدا کیدو نه دا وی چه خپل روح ستا د رضا دپاره خرچ کړم. بیا هم داسے لفظ ته علاوه د سند شرعی نه د خدائے نسبت نهٔ شی ونیلے کیدے. یعنی مونږه ئے رااوغوښتو او آوازئے راکړو د جنګ دپاره. او د بخاری په روایت کښ د دریمے او څلورمے مصرعے دا مضمون دے چه زمونږ ګناهونه او بخښے مونږ ستا فدایان یو د کومے پورے چه ژوندی یو. او د اتمے مصرعے دا مضمون دے چه هر کله مونږ د ګناه دپاره اوغوښتے شو نو مونږ انکار کوو. صحابو ته دا امر معلوم وو چه هر کله به حضرت ﷺ د جنګ په موقع کښ د چا دپاره دُعا اوکړه نو هغه به ضرور شهید کیدو. ځکه به هغوی داسے اووے. دا هم د حضرت یوه معجزه وه. نووی ونیلی دی ددے حدیث نه معلومیږی چه د کورنی خر غوښه پلیته ده. او دغه مذهب دے زمونږه او د جمهورو علماؤ

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ قَاتَلَ أَخِي قِتَالًا شَدِيدًا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَدَّ عَلَيْهِ سَيْفُهُ فَقَتَلَهُ فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذٰلِكَ وَشَكُّوا فِيهِ رَجُلٌ مَاتَ فِي سِلَاحِهِ وَشَكُّوا فِي بَعْضِ أَمْرِهِ قَالَ سَلَمَةُ فَقَفَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَيْبَرَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ ائْذَنْ لِي أَنْ أَرْجُزَ لَكَ فَأَذِنَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَعْلَمُ مَا تَقُولُ قَالَ فَقُلْتُ وَاللهِ لَوْلَا اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقْتَ وَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا وَالْمُشْرِكُونَ قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا قَالَ فَلَمَّا قَضَيْتُ رَجَزِي قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ هٰذَا قُلْتُ قَالَهُ أَخِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْحَمُهُ اللهُ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ نَاسًا لَيَهَابُونَ الصَّلَاةَ

د سلم بن اکوع نه روایت دے هر کله چه د خیبر جنګ اوشو نو ځما رور (عامر بن اکوع) د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښې ښه اوجګنیدهٔ. د هغهٔ توره پخپله په هغهٔ باندے اولګیده او مړ شو. نو د هغهٔ ملګرو د هغهٔ په باره کښې خبرے اترے کولے. او شکایت ئے اوکړو چه هغه پخپله توره پخپله مړ شو. په دے باب کښې ئے څهٔ شکایت کولو. په دے باب کښې سلمه وائی بیا رسول الله ﷺ د خیبر نه واپس شو. نو ما عرض اوکړو یا رسول الله اجازت راکړه ما له د رجز د لوستلو (رجز د هغه د موزون کلام نه د شعر یو بحر دے) حضرت ﷺ اجازت ورکړو. حضرت عمر اووے. ما ته معلومه دهٔ څهٔ چه ته وائے. بیا ما اووے هغه شعرونو له چه د هغې ترجمه داده. چه په الله قسم دے کچرے الله مونږ ته هدایت نهٔ وے کړے نو مونږ به چرته هم لار نهٔ وه موندلے او نهٔ به مو زکوٰة ورکړے وے او نه به مو مونځ کړے وے. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل تا رښتیا اووے. بیا ما اووے نازل کړے الله خپل رحمت په مونږ باندے. او محکم کړه قدمونه زمونږه کهٔ چرے مونږ مخامخ شو د کافرانو او مشرکانو سره او مشرکان ډیر وی په مونږ باندے هر کله چه ما خپل رجز اولوستوو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا د چا کلام دے؟ ما عرض اوکړو ځما د رور. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله تعالی د، رحم اوکړی په هغهٔ باندے. ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ځنے خلق خو په هغهٔ باندے د مونځ کولو نه یریږی. او وائی چه هغهٔ پخپله وسله سره مړ دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه خو جاهد او مجاهد مړ شوے دے. ابن شهاب وئیلی دی ما د سلمه د یو ځوئ نه تپوس اوکړو نو هغوی

او دے حدیث بیان سره د شرح په کتاب النکاح کښې تیر شوے دے. او مالکیه چه کوم د دے په اباحت قائل دی هغوی دا تاویل کوی چه حضرت ﷺ منع فرمائیلے ده د دے نه ځکه چه حاجت وو د خرو د سورلۍ وغیره د پاره. یا د تقسیم نه مخکښې هغوی داسے کړی وو

عَلَيْهِ يَقُولُونَ رَجُلٌ مَاتَ بِسِلَاحِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاتَ جَاهِدًا مُجَاهِدًا قَالَ ابْنُ شِهَابٍ ثُمَّ سَأَلْتُ

دغه حدیث د خپل پلار نه روایت کړو صرف هغهٔ دا لووے چه هر کله ما دا اووے چه ځنې خلق خو په هغهٔ د مونځ کولو نه یره کوی نو حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه دروغژن دی هغه خو جاهد او مجاهد مړ دے. او هغهٔ لره دوچند ثواب دے او اشاره ئې اوکړه پخپله ګوتمسره.

بَابُ غَزْوَةِ الْأَحْزَابِ وَهِيَ الْخَنْدَقُ

باب : د غزوهٔ احزاب یعنی د جنګ خندق بیان

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ يَنْقُلُ مَعَنَا التُّرَابَ وَلَقَدْ وَارَى التُّرَابُ بَيَاضَ بَطْنِهِ وَهُوَ يَقُولُ وَاللهِ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا إِنَّ الْأُلَى قَدْ أَبَوْا عَلَيْنَا قَالَ وَرُبَّمَا قَالَ إِنَّ الْمَلَا قَدْ أَبَوْا عَلَيْنَا إِذَا أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا وَيَرْفَعُ بِهَا صَوْتَهُ

د براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د احزاب په ورځ زمونږ سره وو خاورے به ئې چلولے (هر کله چه خندق اوکنستلے شو د مدینې چاپیره) او خاورو د هغوی د ګیډے سپین والے پټ کړے وو. حضرت ﷺ دا فرمائیل قسم په الله کچرے تا هدایت نهٔ وے کړے نو مونږ به لار نهٔ وه موندلے. او نهٔ به مونږ صدقه ورکړے وه او نهٔ به مونږ مونځ کړے وو. تا راوالیږهٔ خپل رحمت لره په مونږ باندے. هغه خلقو (یعنی مکے والاوو) او نهٔ منله زمونږ وینا (یعنی ایمان ئې را نهٔ وړو او په یو روایت کښې دی هغه جماعت زمونږ وینا او نهٔ منله) هر کله چه هغوی د فساد خبره کول غواړی (یعنی شرك او كفر وغيره) نو مونږ نهٔ شریك كيږو د هغوی. او دا به حضرت ﷺ په اوچت آواز سره فرمائیل[1].

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ إِنَّ الْأُلَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا

ابو اسحاق وئیلی دی چه ما د براء رضی الله عنه نه اوریدلی دی. مخکښې ئې د پورتنی حدیث پشان ذکر کړو. مګر په دے کښې دادی چه هغه خلقو په مونږ باندے ګنره کړه او سرکشی ئې اوکړه (د بخاری په روایت

---

[1] نووی رحمه الله وئیلی دی د دے حدیث نه د رجز استحباب وتلے دے د محنت په وخت کښې. لکه تعمیر وغیره او دا تر هم معلومه شوه چه امام لره هم په دغه کارونو کښې شریکیدل پکار دی د ضرورت په وخت کښې. افسوس دے چه رسول الله ﷺ خو د خاورو پورے په راچلولو کښې شرم نهٔ کولو او د دے زمانې ځنې بیوقوفه تتې؛ پاکونکی امیران چه هغوی ته د ګنجکے برابر اختیار نشته دے د غریبو خلقو سره په خوړلو او یو ځائے کیښناستلو کښې شرم کوی. په السلام علیکم کولو سره هغه خفه کیږی د سنتو موافق په مصافحه کولو سره هغه ناراضه کیږی. بیا د اځنګه مسلمانان دی په ښکاره ولے نهٔ وائی چه مونږ کافران یو ، مرتد دی ، ملعون دی. معاذ الله مِن ذلك.

کښې هم دغسې دي،

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍؓ قَالَ جَاءَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ وَنَحْنُ نَحْفِرُ الْخَنْدَقَ وَنَنْقُلُ التُّرَابَ عَلَى أَكْتَافِنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اَللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةِ فَاغْفِرْ لِلْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ

د سهل بن سعدؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ زمونږ خواله راغے او مونږ خندق کنستلو او خاوره به مو په خپلو اوږو باندے اوړله. حضرتؐ اوفرمائیل یا الله نشته دے عیش مګر د آخرت عیش او اوبخښے ته انصارو او مهاجرینو لره[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ اللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ

د حضرت انس بن مالكؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل یا الله نشته دے عیش مګر عیش د آخرت او اوبخښے مهاجرینو او انصارو لره.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنَّ الْعَيْشَ عَيْشُ الْآخِرَهْ قَالَ شُعْبَةُ أَوْ قَالَ اللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَهْ فَأَكْرِمِ الْأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَهْ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی وو یا الله! عیش خو د آخرت عیش دے. ته کرم اوکړه په انصارو باندے او مهاجرینو باندے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانُوا يَرْتَجِزُونَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهُمْ وَهُمْ يَقُولُونَ اَللّٰهُمَّ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُ الْآخِرَهْ فَانْصُرِ الْأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَهْ وَفِي حَدِيثِ شَيْبَانَ بَدَلَ فَانْصُرْ فَاغْفِرْ

د حضرت انس بن مالكؓ نه روایت دے صحابۀ به رجز لوستلو. او رسول الله ﷺ هم د هغوی سره وو. هغوی به فرمائیل یا الله نشته دے خیر مګر خیر خو د آخرت دے. ته مدد اوکړه د انصارو او مهاجرینو. او د شیبان په روایت کښې دي اوبخښے انصارو او مهاجرینو لره.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوا يَقُولُونَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدًا عَلَى الْإِسْلَامِ مَا بَقِينَا أَبَدًا أَوْ قَالَ عَلَى

د انسؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ صحابو د خندق په ورځ به وئیل چه مونږ هغه خلق یو چا چه بیعت کړے دے د رسول الله ﷺ نه په اسلام یا په جهاد باندے د کومې پورې چه مونږه ژوندي یو. او

[1] خومره خوش قسمته وو هغه مهاجرین او انصار. قسم دے د رسول الله ﷺ په خدمت کښې. او د الله جل جلاله د دین په خدمت کښې خاورے چلول د هفت اقلیم یعني تولے دنیا د سلطنت نه په زرګونو درجې غوره دي. خو دا خوند هغه چا ته دے چه هغه ئے پیژني.

الْجِهَادِ شَكَّ حَمَّادٌ وَالنَّبِيُّ ﷺ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنَّ الْخَيْرَ خَيْرُ الْآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ

بَاب غَزْوَةِ ذِي قَرَدٍ وَغَيْرِهَا

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رضي الله عنه يَقُولُ خَرَجْتُ قَبْلَ أَنْ يُؤَذَّنَ بِالْأُولَى وَكَانَتْ لِقَاحُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْعَى بِذِي قَرَدٍ قَالَ فَلَقِيَنِي غُلَامٌ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ فَقَالَ أُخِذَتْ لِقَاحُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ مَنْ أَخَذَهَا قَالَ غَطَفَانُ قَالَ فَصَرَخْتُ ثَلَاثَ صَرَخَاتٍ يَا صَبَاحَاهْ قَالَ فَأَسْمَعْتُ مَا بَيْنَ لَابَتَيِ الْمَدِينَةِ ثُمَّ انْدَفَعْتُ عَلَى وَجْهِي حَتَّى أَدْرَكْتُهُمْ بِذِي قَرَدٍ وَقَدْ أَخَذُوا يَسْقُونَ مِنَ الْمَاءِ فَجَعَلْتُ أَرْمِيهِمْ بِنَبْلِي وَكُنْتُ رَامِيًا وَأَقُولُ أَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ فَأَرْتَجِزُ حَتَّى اسْتَنْقَذْتُ اللِّقَاحَ مِنْهُمْ وَاسْتَلَبْتُ مِنْهُمْ ثَلَاثِينَ بُرْدَةً قَالَ وَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ إِنِّي قَدْ حَمَيْتُ الْقَوْمَ الْمَاءَ وَهُمْ عِطَاشٌ فَابْعَثْ إِلَيْهِمُ السَّاعَةَ فَقَالَ يَا ابْنَ الْأَكْوَعِ مَلَكْتَ فَأَسْجِحْ قَالَ ثُمَّ رَجَعْنَا

رسول الله ﷺ به فرمائيل يا الله! نيكي خو د آخرت نيكي ده. ته اوبخښې انصارو او مهاجرينو لره.

باب: د ذى قرد وغيره جنګونو بيان

د سلمه بن الاكوع رضي الله عنه نه روايت دے چه زۀ سحر د اذان نه مخکښې راووتم او د حضرت ﷺ پيء ورکونکے اوښې په ذى قرد کښې څريدلے (ذى قرد د يو اوبو نوم دے مدينے نه د يوے ورځې په فاصله باندے. بخاري وئيلي دي چه دا جنګ د خيبر د جنګ نه درے ورځې مخکښې شوے وو او څنو وئيلي دي په شپږمه هجرۍ کښې د حديبيے نه مخکښې) څما سره د عبد الرحمن بن عوف د غلام ملاقات اوشو هغۀ اووے د رسول الله ﷺ پيء ورکونکے اوښې لاړے. ما اووے چا ويوړلے هغۀ اووے عطفان (چه د قيس قبيلے يو شاخ دے) د درے په اوريدو ما درے چغې اووهلې يا صباحاه (د عربو عادت دے چه دا كلمه هغه وخت وائي هر كله چه څۀ لوئے افت راځي او خلقو ته د خبردار کولو ضرورت وي) او د مدينے دواړه طرف والاؤ ته مې بنه واوروو. بيا زۀ نيغ لاړم تر دے پورے چه هغه ډاکوان مې په ذى قرد کښې بيا موندل هغوى اوبۀ څښل شروع کړي وو او ما پرے غشى ويشتل شروع کړل او زۀ تيرانداز وم. او دا به مې وئيل أَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ ما دا رجز لوستل تر دے پورے چه اوښې مې د هغوى نه آزاد کړلے بلکه نور مې ترے ديرش څادرونه د هغوى نه واخستل او رسول الله ﷺ او نور خلق هم راغلۀ ما عرضا وکړو يا رسول الله ﷺ دغه ډاکوانو لره ما اوبو څښلو ته نۀ دي پريخودى هغه تږى دي. اوس په هغوى پسے لښکر اوليږئ حضرت ﷺ اوفرمائيل اے د اکوع خويه تا ترے خپل څيزونه واخستل اوس نرے پريږده. سلمه وائي بيا مونږ واپس شو او رسول الله ﷺ

وَيُرْدِفُنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى نَاقَتِهِ حَتَّى دَخَلْنَا الْمَدِينَةَ

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ ؓ قَالَ قَدِمْنَا الْحُدَيْبِيَةَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً وَعَلَيْهَا خَمْسُونَ شَاةً لَا تُرْوِيهَا قَالَ فَقَعَدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَبَا الرَّكِيَّةِ فَإِمَّا دَعَا وَإِمَّا بَصَقَ فِيهَا قَالَ فَجَاشَتْ فَسَقَيْنَا وَاسْتَقَيْنَا قَالَ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَانَا لِلْبَيْعَةِ فِي أَصْلِ الشَّجَرَةِ قَالَ فَبَايَعْتُهُ أَوَّلَ النَّاسِ ثُمَّ بَايَعَ وَبَايَعَ حَتَّى إِذَا كَانَ فِي وَسَطٍ مِنَ النَّاسِ قَالَ بَايِعْ يَا سَلَمَةُ قَالَ قُلْتُ قَدْ بَايَعْتُكَ يَا رَسُولَ اللهِ فِي أَوَّلِ النَّاسِ قَالَ وَأَيْضًا قَالَ وَرَآنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَزِلًا يَعْنِي لَيْسَ مَعَهُ سِلَاحٌ قَالَ فَأَعْطَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَفَةً أَوْ دَرَقَةً ثُمَّ بَايَعَ حَتَّى إِذَا كَانَ فِي آخِرِ النَّاسِ قَالَ أَلَا تُبَايِعُنِي يَا سَلَمَةُ قَالَ قُلْتُ قَدْ بَايَعْتُكَ يَا رَسُولَ اللهِ فِي أَوَّلِ النَّاسِ وَفِي أَوْسَطِ النَّاسِ قَالَ وَأَيْضًا قَالَ فَبَايَعْتُهُ

په اوښه باندې د خپل ځان سره زۀ کېښنولم تردې پورې چه مونږ مدینې منورې ته اورسیدو[1].

د سلمه بن اکوع ؓ نه روایت دې هر کله چه مونږ حدیبیې ته اورسیدو نو مونږ څوارلس سوه سړي وو (دغه مشهور روایت دې او په یو روایت کښې دیارلس سوه او په بل روایت کښې پنځلس سوه راغلي دي) او هلته پنځوس بزې وې چه هغه به د کوهي په اوبو نۀ شوې مړیدې (یعني دومره کمې اوبۀ وې په کوهي کښې) بیا رسول الله ﷺ د کوهي په غاړه باندې کېښناستو او دُعا ئې اوکړه یائې لاړې مبارکې په کوهي کښې اوتوکلې. کوهې په هغه وخت تر غاړې پورې ډك شو. بیا مونږ په څناورو اوبۀ اوڅښلې او پخپله مو هم اوڅښلې. ددې نه پس رسول الله ﷺ مونږ رااوغوښتو د بیعت دپاره د اونې ویخ ته چه هغه اونې ته شجرۀ رضوان وئیلې شي او د دغې اونې ذکر په قرآن مجید کښې دې. اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرِ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللهَ. د آخره پورې ما د هر چا نه مخکښې په خلقو کښې د حضرت ﷺ نه بیعت اوکړو. بیا حضرت ﷺ بیعت اخستلو اخستلو تردې پورې چه نیمو خلقو بیعت اوکړو. دغه وخت حضرت ﷺ اوفرمائیل اې سلمه بیعت اوکړه ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ما خو ستا نه د هر چا نه اول بیعت کړې دې. حضرت ﷺ اوفرمائیل بیا ښۀ دې. او حضرت ﷺ زۀ بې وسلې اولیدم نو یو لوئې غوند ډهال یا وړوکې غوندې ډهال ئې راکړو. بیا حضرت ﷺ بیعت اخستل شروع کړل تردې چه خلق په ختمیدو شو. او دغه وخت حضرت ﷺ اوفرمائیل اې سلمه څما نه بیعت نۀ کوې. ما

[1] دا جرز وو ددې معنی داده چه زۀ د اکوع خوئې یم. په جنګ کښې داسې وئیل روا دي ددې دپاره چه په دشمن باندې رعب پریوځي نن د کم اصلو د تباهۍ ورځ ده یا نن به پېژند ګلو وي چه چا د شریفانو پیۍ څښلې وي او چا د رزیلانو یا نن هغه ورځ ده چه په دې به پېژند ګلو کیږي د هغه سړي چا چه د ماشوم والي نه د جنګ پیۍ څښلې وي او په جنګ کښې ماهر وي

الثَّالِثَةَ ثُمَّ قَالَ لِي يَا سَلَمَةُ أَيْنَ حَجَفَتُكَ أَوْ دَرَقَتُكَ الَّتِي أَعْطَيْتُكَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ لَقِيَنِي عَمِّي عَامِرٌ عَزِلًا فَأَعْطَيْتُهُ إِيَّاهَا قَالَ فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ إِنَّكَ كَالَّذِي قَالَ الْأَوَّلُ اللَّهُمَّ أَبْغِنِي حَبِيبًا هُوَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي ثُمَّ إِنَّ الْمُشْرِكِينَ رَاسَلُونَا الصُّلْحَ حَتَّى مَشَى بَعْضُنَا فِي بَعْضٍ وَاصْطَلَحْنَا قَالَ وَكُنْتُ تَبِيعًا لِطَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ أَسْقِي فَرَسَهُ وَأَحُسُّهُ وَأَخْدِمُهُ وَآكُلُ مِنْ طَعَامِهِ وَتَرَكْتُ أَهْلِي وَمَالِي مُهَاجِرًا إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَلَمَّا اصْطَلَحْنَا نَحْنُ وَأَهْلُ مَكَّةَ وَاخْتَلَطَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ أَتَيْتُ شَجَرَةً فَكَسَحْتُ شَوْكَهَا فَاضْطَجَعْتُ فِي أَصْلِهَا قَالَ فَأَتَانِي أَرْبَعَةٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ فَجَعَلُوا يَقَعُونَ فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَبْغَضْتُهُمْ فَتَحَوَّلْتُ إِلَى شَجَرَةٍ أُخْرَى وَعَلَّقُوا سِلَاحَهُمْ وَاضْطَجَعُوا فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ نَادَى مُنَادٍ مِنْ أَسْفَلِ الْوَادِي يَا لِلْمُهَاجِرِينَ قُتِلَ ابْنُ زُنَيْمٍ قَالَ فَاخْتَرَطْتُ سَيْفِي ثُمَّ شَدَدْتُ عَلَى أُولَئِكَ الْأَرْبَعَةِ وَهُمْ رُقُودٌ فَأَخَذْتُ سِلَاحَهُمْ

عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ما خو ستا نه بیعت کړے دے په اول د خلقو کښ بیا د مینځ په خلقو کښ. حضرت ﷺ اوفرمائیل بیا بیعت اوکړه. غرض دا چه ما په دریم ځل د هغوی نه بیعت اوکړو. بیا حضرت اوفرمائیل اے سلمه ستا هغه لوئے ډهال یا وړوکے ډهال چرته دے. کوم چه ما تاته درکړے وو. ما عرض اوکړو یا رسول الله ما ترۀ عامر ما ته میلاؤ شو او هغه بے وسلے وو ما هغه ډهال هغۀ ته ورکړو. حضرت مسکے شو او اوئے فرمائیل ستا مثال د هغه رومبی سړی په شان شو چه هغه دُعا کړے وه یا الله ما ته داسے دوست راکړه چه هغۀ لره زۀ د خپل ځان نه زیات غواړمه بیا مشرکانو د صلح پیغام رااولیږو تر دے پورے چه د هر یو طرف سړے بل طرفته روان شو او مونږ صلح اوکړه. مسلمه وائی زۀ د طلحه بن عبید الله خادم وم د هغۀ اس به مے اوبۀ کوو او شوره کوو او د هغوی خدمت به مے کو او د هغوی سره به مے طعام خوړو. او ما خپل اهل وعیال او مال ټول هر څۀ پریخودی وو. د الله او د هغۀ د رسول په طرف مے هجرت کړے وو. هر کله چه زمونږه او دمکے والاؤ صلح راغله او میلاویدل به بعضے زمونږ د هغوی د بعضو سره. نو زۀ د یوے اونے خواله راغلم او د هغے دلاندے نه مے اغزی جارو کړل او د لاندے ترے سملاستم. چه په دے کښ ځلور سړی د مکے د مشرکانو نه راغلل او د جناب رسول خدا ﷺ په بدو وئیلو ئے شروع اوکړه. ما ته غصه راغله او د بلے اونے لاندے لاړمه هغوی خپله وسلے اونے ته واچولے او دۀ شول هغوی په دغه حال کښ وو چه ناڅاپه د وادئ د لاندے نه چا آواز راکړو منده کړئ اے مهاجرینو ابن زنیم (صحابی) اووژلے شو. ددے په اوریدو ما خپله توره اوویسته او په هغه ځلورو سړو باندے مے حمله اوکړه. هغه اوده وو د هغوی وسلے مے رااخستے

فَجَعَلْتُهُ ضِغْثًا فِي يَدِي قَالَ ثُمَّ قُلْتُ وَالَّذِي كَرَّمَ وَجْهَ مُحَمَّدٍ لَا يَرْفَعُ أَحَدٌ مِنْكُمْ رَأْسَهُ إِلَّا ضَرَبْتُ الَّذِي فِيهِ عَيْنَاهُ قَالَ ثُمَّ جِئْتُ بِهِمْ أَسُوقُهُمْ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَجَاءَ عَمِّي عَامِرٌ بِرَجُلٍ مِنَ الْعَبَلَاتِ يُقَالُ لَهُ مِكْرَزٌ يَقُودُهُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَرَسٍ مُجَفَّفٍ فِي سَبْعِينَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَنَظَرَ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دَعُوهُمْ يَكُنْ لَهُمْ بَدْءُ الْفُجُورِ وَثِنَاهُ فَعَفَا عَنْهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْزَلَ اللهُ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ الْآيَةَ كُلَّهَا قَالَ ثُمَّ خَرَجْنَا رَاجِعِينَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا بَيْنَنَا وَبَيْنَ بَنِي لَحْيَانَ جَبَلٌ وَهُمُ الْمُشْرِكُونَ فَاسْتَغْفَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَنْ رَقِيَ هٰذَا الْجَبَلَ اللَّيْلَةَ كَأَنَّهُ طَلِيعَةٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ قَالَ سَلَمَةُ فَرَقِيتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا ثُمَّ قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ فَبَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِظَهْرِهِ مَعَ رَبَاحٍ غُلَامِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَعَهُ

او یو ځائے مے اوترلے او په یو لاس کښں مے راواخستے. بیا ما اووے قسم دے په هغه ذات چا چه عزت ورکړے دے د محمد ﷺ مخ لره چه ستاسو نه د یو هم سر اوچت نۀ کړی مګر وهلے به وی ما په هغه اندام چه په هغے کښں ئے دواړه سترګے دی بیا ما په راښکودو راښکودو د رسول الله ﷺ خواله راوستل او خما ترۀ عامر د عبلات (دا د قریشو یوشاخ دے) نه یو سړے راوستو چه هغۀ لره په راښکودو راوستو په اس باندے چه په هغه باندے کجاوه پرته وه. او د اویاؤ سړو سره په مشرکانو کښں رسول الله ﷺ هغه اولیدۀ. بیا ئے اووے پریږدئ دۀ لره د مشرکانو په طرف د وعده خلافۍ د شروع کیدو دپاره بیائے په دویمه وعده خلافۍ پریږدوئ (یعنی مونږ کچرے دغه خلقو لره اووژنو نو د صلح نه پس به زمونږ د طرف نه وعده خلافی شی دا مناسب نۀ ده مخکښں چه د کافرانو د طرفنه وعده خلافی یو ځل نه چه دوه ځله اوشی. بیا مونږ لره بدله اخستل بد نۀ دی) آخر رسول الله ﷺ هغه خلقو لره معاف کړل بیا الله تعالی دا ایت نازل کړو. وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ د اخیره پورے. یعنی هغه الله د هغوی لاسونه منع کړل ستاسو نه او ستاسو لاسونه ئے منع کړل د هغوی نه د مکے په سرحد کښں هر کله چه ئے فتح درکړے وه تاسو لره په هغوی باندے. بیا مونږ مدینے ته واپس شو په لاره کښں په یو منزل باندے کوز شو چرته چه زمونږ او د بنی لحیان د مشرکانو په مینځ کښں یو غر وو. رسول الله ﷺ دعا اوکړه د هغه سړی دپاره چه هغه په دغه غر باندے د شپے اوخیژی او پهره ورکړی د حضرت ﷺ او د هغوی د ملګرو. سلمه ؓ وائی زۀ د شپے په دغه غر باندے دوه یا درے ځله اوختم (او پهره مے ورکړه) بیا مونږ مدینے ته اورسیدو نو جناب رسول خدا ﷺ خپلے اوښے رباح غلام ته

وَخَرَجْتُ مَعَهُ بِفَرَسِ طَلْحَةَ أُنَدِّيهِ مَعَ الظَّهْرِ فَلَمَّا أَصْبَحْنَا إِذَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ الْفَزَارِيُّ قَدْ أَغَارَ عَلَى ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَاقَهُ أَجْمَعَ وَقَتَلَ رَاعِيَهُ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَبَاحُ خُذْ هَذَا الْفَرَسَ فَأَبْلِغْهُ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللهِ وَأَخْبِرْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْمُشْرِكِينَ قَدْ أَغَارُوا عَلَى سَرْحِهِ قَالَ ثُمَّ قُمْتُ عَلَى أَكَمَةٍ فَاسْتَقْبَلْتُ الْمَدِينَةَ فَنَادَيْتُ ثَلَاثًا يَا صَبَاحَاهْ ثُمَّ خَرَجْتُ فِي آثَارِ الْقَوْمِ أَرْمِيهِمْ بِالنَّبْلِ وَأَرْتَجِزُ أَقُولُ أَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ فَأَلْحَقُ رَجُلًا مِنْهُمْ فَأَصُكُّ سَهْمًا فِي رَحْلِهِ حَتَّى خَلَصَ نَصْلُ السَّهْمِ إِلَى كَتِفِهِ قَالَ قُلْتُ خُذْهَا وَأَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ قَالَ فَوَاللهِ مَا زِلْتُ أَرْمِيهِمْ وَأَعْقِرُ بِهِمْ فَإِذَا رَجَعَ إِلَيَّ فَارِسٌ أَتَيْتُ شَجَرَةً فَجَلَسْتُ فِي أَصْلِهَا ثُمَّ رَمَيْتُهُ فَعَقَرْتُ بِهِ حَتَّى إِذَا تَضَايَقَ الْجَبَلُ فَدَخَلُوا فِي تَضَايُقِهِ عَلَوْتُ الْجَبَلَ فَجَعَلْتُ أُرَدِّيهِمْ بِالْحِجَارَةِ قَالَ فَمَا زِلْتُ كَذَلِكَ أَتْبَعُهُمْ حَتَّى مَا خَلَقَ اللهُ مِنْ بَعِيرٍ مِنْ ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا خَلَّفْتُهُ وَرَاءَ ظَهْرِي وَخَلَّوْا بَيْنِي وَبَيْنَهُ

پخپله ورکړے. او زۀ هم و هغۀ سره وم د طلحه آس راسره وو چراګاه ته د رسولو دپاره د هغه اوښانو سره هر کله چه سحر شو نو عبد الرّحمٰن فزاری (مشرك) د حضرت ﷺ اوښو له لوټ کړے او ټول ئے اوشړلے وائے خستے. او څرونکے ئے اووژلو. ما اووے اے رباح ته دا اس واخله او د طلحه خواله ئے اورسوه او رسول الله ﷺ خبر کړه چه کافرانو ستا اوښے لوټ کړے. بیا زۀ په یو خټ باندے اودریدمه او د مدینے طرفته مے مخ کړو او درے ځله مے آواز اوکړو یا صباحاه. د دے وئیلو نه پس بیا په هغه ډاکوانو پسے روستو روان شوم او غشی به مے ویشتل او رجز به مے لوستول وَأَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ. وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ یعنی زۀ د اکوع خوئ یم او نن د کم اصلو د تباهئ ورځ ده. بیا چه به زۀ چا ته نزدے کیدم نو یو غشے به مے د هغۀ د اس په زین کښ ویشتلو چه هغه به د هغۀ د اوږے پورے اورسیدو (زین به څیرے کړو) او دا به مے وئیل دا واخله او زۀ د اکوع خوئ یم او نن د حرامیانو د تباهئ ورځ ده. بیا قسم په خدائے چه ما برابر غشی ویشتل او زخمی کول به مے. بره کله چه به یو سور خما په طرف واپس شو نو زۀ به د اونے لاندے راغلم او د هغے د تنے په خواه به کیښناستم او یو غشے به مے اوویشتو. نو هغه سور سرے به زخمی شو تردے پورے چه هغه د غر په تنګه لاره کښ ننوتل او زۀ غر ته اوختم او د هغه ځائے نه مے پرے ګټے ویشتل شروع کړل او برابر په هغوی پسے روستو روان وم تردے پورے چه یو اوښ چه هغه الله تعالیٰ پیدا کړے وو او هغه د رسول الله ﷺ د سورلئ وو داسے نۀ وو چه خمانه روستو پاتے شوے نۀ وو او لوټ کونکو هغے لره پریخودے نۀ وو (نو ټول اوښان سلمه بن اکوع د هغوی نه واخستل) سلمه وائی بیا زۀ په هغوی پسے روستو د غشو ویشتلو سره روان وم تردے پورے چه د

ثُمَّ اتَّبَعْتُهُمْ أَرْمِيهِمْ حَتَّى أَلْقَوْا أَكْثَرَ مِنْ
ثَلَاثِينَ بُرْدَةً وَثَلَاثِينَ رُمْحًا يَسْتَخِفُّونَ وَلَا
يَطْرَحُونَ شَيْئًا إِلَّا جَعَلْتُ عَلَيْهِ آرَامًا مِنَ
الْحِجَارَةِ يَعْرِفُهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ حَتَّى أَتَوْا مُتَضَايِقًا مِنْ
ثَنِيَّةٍ فَإِذَا هُمْ قَدْ أَتَاهُمْ فُلَانُ بْنُ بَدْرٍ
الْفَزَارِيُّ فَجَلَسُوا يَتَضَحَّوْنَ يَعْنِي يَتَغَدَّوْنَ
وَجَلَسْتُ عَلَى رَأْسِ قَرْنٍ قَالَ الْفَزَارِيُّ مَا
هَذَا الَّذِي أَرَى قَالُوا لَقِينَا مِنْ هَذَا الْبَرْحَ
وَاللهِ مَا فَارَقَنَا مُنْذُ غَلَسٍ يَرْمِينَا حَتَّى
انْتَزَعَ كُلَّ شَيْءٍ فِي أَيْدِينَا قَالَ فَلْيَقُمْ إِلَيْهِ
نَفَرٌ مِنْكُمْ أَرْبَعَةٌ قَالَ فَصَعِدَ إِلَيَّ مِنْهُمْ أَرْبَعَةٌ
فِي الْجَبَلِ قَالَ فَلَمَّا أَمْكَنُونِي مِنَ الْكَلَامِ
قَالَ قُلْتُ هَلْ تَعْرِفُونِي قَالُوا لَا وَمَنْ أَنْتَ
قَالَ قُلْتُ أَنَا سَلَمَةُ بْنُ الْأَكْوَعِ وَالَّذِي كَرَّمَ
وَجْهَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أَطْلُبُ
رَجُلًا مِنْكُمْ إِلَّا أَدْرَكْتُهُ وَلَا يَطْلُبُنِي رَجُلٌ
مِنْكُمْ فَيُدْرِكَنِي قَالَ أَحَدُهُمْ أَنَا أَظُنُّ قَالَ
فَرَجَعُوا فَمَا بَرِحْتُ مَكَانِي حَتَّى رَأَيْتُ
فَوَارِسَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يَتَخَلَّلُونَ الشَّجَرَ قَالَ فَإِذَا أَوَّلُهُمُ الْأَخْرَمُ
الْأَسَدِيُّ عَلَى إِثْرِهِ أَبُو قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيُّ
وَعَلَى إِثْرِهِ الْمِقْدَادُ بْنُ الْأَسْوَدِ الْكِنْدِيُّ قَالَ

ديرشو څادرونو نه زيات او د ديرشو نيزو نه زياتے مے د هغوی نه
واخستے. او هغوی به خپل خان سپکولو (د تختيدو دپاره) او کوم څيز
چه به هغوی غورځوو په هغے به مے د ګټے يوه نښه ايخوده. دد ے دپاره
چه حضرت ﷺ او د هغوی صحابه د ے لره اوپيژنی (چه دا د غنيمت
مال د ے او د ے لره واخلی) ترد ے پور ے چه هغوی په يو تنګ کنډو
کښې راغلل. او هلته هغوی ته د بدر فزاری خوئ ميلاؤ شو هغوی تول
کيښناستل او د سحر ناشته ئے کوله او زهٔ د يو وړوکی کمر په څوکه
باند ے ناست وم. فزاری اوو ے دا څوک سړ ے د ے؟ هغوی اوو ے
د ے سړی مونږ ډير تنګ کړی يو. قسم په خدائے د تور ے شپے نه
زمونږ سره د ے برابر په غشو مو اولی. ترد ے پور ے چه څهٔ زمونږ سره
وو هغه ټول ئے رانه واخستل. فزاری اوو ے ستاسو نه دِ څلور سړی لاړ
شی او دهٔ لره دِ مړ کړی. دد ے په اوريدو څلو رسړی څما په طرف په غر
باند ے راختل هر کله چه هغه دومره بيرته راغلل چه څما خبر ے ئے
اوريد ے نو ما اوو ے تاسو ما پيژنئ. هغوی اوو ے نه ما اوو ے زهٔ
سلمه يم د اکوع خوئ (اکوع ددهٔ نيکهٔ وو ليکن د نيکهٔ په طرف ئے د
خپل خان نسبت اوکړو په وجه د شهرت او د سلمه د پلار نوم عمرو وو
او عامر ددهٔ ترهٔ وو څکه چه د اکوع خوئ وو) قسم د ے په هغه ذات چا
چه د محمد ﷺ مخ لره لوئی والے ورکړے د ے زهٔ چه ستاسو نه چا لره
اوغواړم ورڅلے شم (او ستاسو نه يو هم ما نهٔ شی وڅلے. د هغوی نه يو
سړی اوو ے دا هم دغسے معلوميږی بيا هغه ټول واپس شو زهٔ د هغه
ځائے نه لانهٔ وم تلے چه د رسول الله ﷺ سوارهٔ په نظر راغلل چه په اونو
کښې راداخل شو. د ټولو نه مخکښې اخرم اسدی وو. په هغهٔ پسے
ابوقتاده وو په هغهٔ پسے مقدار بن اسود کندی وو. ما د اخرم د اس واګے

فَأَخَذْتُ بِعِنَانِ الْأَخْرَمِ قَالَ فَوَلَّوْا مُدْبِرِينَ قُلْتُ يَا أَخْرَمُ احْذَرْهُمْ لَا يَقْتَطِعُوكَ حَتَّى يَلْحَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ قَالَ يَا سَلَمَةُ إِنْ كُنْتَ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتَعْلَمُ أَنَّ الْجَنَّةَ حَقٌّ وَالنَّارَ حَقٌّ فَلَا تَحُلْ بَيْنِي وَبَيْنَ الشَّهَادَةِ قَالَ فَخَلَّيْتُهُ فَالْتَقَى هُوَ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ قَالَ فَعَقَرَ بِعَبْدِ الرَّحْمَنِ فَرَسَهُ وَطَعَنَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَقَتَلَهُ وَتَحَوَّلَ عَلَى فَرَسِهِ وَلَحِقَ أَبُو قَتَادَةَ فَارِسُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَبْدِ الرَّحْمَنِ فَطَعَنَهُ فَقَتَلَهُ فَوَالَّذِي كَرَّمَ وَجْهَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَتَبِعْتُهُمْ أَعْدُو عَلَى رِجْلَيَّ حَتَّى مَا أَرَى وَرَائِي مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا غُبَارِهِمْ شَيْئًا حَتَّى يَعْدِلُوا قَبْلَ غُرُوبِ الشَّمْسِ إِلَى شِعْبٍ فِيهِ مَاءٌ يُقَالُ لَهُ ذُو قَرَدٍ لِيَشْرَبُوا مِنْهُ وَهُمْ عِطَاشٌ قَالَ فَنَظَرُوا إِلَيَّ أَعْدُو وَرَاءَهُمْ فَخَلَّيْتُهُمْ عَنْهُ يَعْنِي أَجْلَيْتُهُمْ عَنْهُ فَمَا ذَاقُوا مِنْهُ قَطْرَةً قَالَ وَيَخْرُجُونَ فَيَشْتَدُّونَ فِي ثَنِيَّةٍ قَالَ فَأَعْدُو فَأَلْحَقُ رَجُلًا مِنْهُمْ فَأَصُكُّهُ بِسَهْمٍ فِي نُغْضِ كَتِفِهِ قَالَ قُلْتُ خُذْهَا وَأَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ قَالَ يَا ثَكِلَتْهُ أُمُّهُ أَكْوَعُهُ

اونیولے دے په لیدو هغه ډاکه مار او تختیدل ما اووے اے اخرم ته د هغوی نه خان بچ ساته داسے نۀ وی چه تاله مر کړی د کومے پورے رسول الله ﷺ او د هغوی ملګری راغلی نۀ وی. هغوی اووے اے سلمه کچری ستا یقین وی په الله تعالی او د آخرت په ورځ او ته جنت او دوزخ رښتیا ګڼړے نو مۀ منع کوه ما لره د شهادت نه (یعنی ډیره به ښۀ وی چه زۀ د دغه خلقو دلاسه شهید شم دد ے غوره څۀ دی) ما هغوی لره پریخودۀ. د هغوی مقابله راغله د عبد الرّحمٰن فزاری سره. اخرم د هغۀ اس لره زخمی کړو او عبد الرّحمٰن په نیزه سره اخرم شهید کړو. او د اخرم په اس باندے سور شو په دے کښں رسول الله ﷺ شاهسوار حضرت ابوقتادهؓ را اورسیدۀ او هغوی عبد الرّحمٰن په نیزه اووهو او قتل ئے کړو. نو قسم دے په هغه ذات چا چه د حضرت ﷺ مخ لره لوئی ورکړے ده چه زۀ په هغوی پسے روستو پیدل داسے په منډه روان وم چه ماته ما پسے د حضرت ﷺ ملګرے نۀ ښکاریدو نۀ د هغوی دوړے تردے پورے چه هغه نقب زن د نمر د پریوتو نه مخکښں یو کنډؤ ته اورسیدل چه هلته کښں اوبۀ وے. او د هغه ځائے نوم ذی قرد وو. هغوی تږی شوی وو کوز شو د اوبو څښلو دپاره. بیائے زۀ اولیدم چه په هغوی پسے په منډه روان وم. آخر ما هغوی د اوبو نه لرے کړل هغوی یوه قطره هم او نۀ څښله اوس هغوی په منډه روان وو د یو کنډؤ په طرف ما هم ورپسے منډے کړے او د هغوی نه مے یو کس د منګز په هډوکی باندے په غشی اوویشتو او ما اووے واخله دے لره او زۀ د اکوع خوئ یم او دا ورځ د حرامیانو د تباهۍ ده. هغوی اووے (الله د اوکړی چه د اکوع خوئ مړ شی او) د هغۀ مور په هغوی باندے اوژاړی هغه اکوع دے کوم چه سحر زمونږ سره وو. ما اووے آو اے د خپل روح

بُكْرَةً قَالَ قُلْتُ نَعَمْ يَا عَدُوَّ نَفْسِهِ أَكْوَعُكَ بُكْرَةً قَالَ وَأَرْدَوْا فَرَسَيْنِ عَلَى ثَنِيَّةٍ قَالَ فَجِئْتُ بِهِمَا أَسُوقُهُمَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَلَحِقَنِي عَامِرٌ بِسَطِيحَةٍ فِيهَا مَذْقَةٌ مِنْ لَبَنٍ وَسَطِيحَةٍ فِيهَا مَاءٌ فَتَوَضَّأْتُ وَشَرِبْتُ ثُمَّ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمَاءِ الَّذِي حَلَّأْتُهُمْ عَنْهُ فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَخَذَ تِلْكَ الْإِبِلَ وَكُلَّ شَيْءٍ اسْتَنْقَذْتُهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَكُلَّ رُمْحٍ وَبُرْدَةٍ وَإِذَا بِلَالٌ نَحَرَ نَاقَةً مِنَ الْإِبِلِ الَّذِي اسْتَنْقَذْتُ مِنَ الْقَوْمِ وَإِذَا هُوَ يَشْوِي لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ كَبِدِهَا وَسَنَامِهَا قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ خَلِّنِي فَأَنْتَخِبُ مِنَ الْقَوْمِ مِائَةَ رَجُلٍ فَأَتَّبِعُ الْقَوْمَ فَلَا يَبْقَى مِنْهُمْ مُخْبِرٌ إِلَّا قَتَلْتُهُ قَالَ فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ فِي ضَوْءِ النَّارِ فَقَالَ يَا سَلَمَةُ أَتُرَاكَ كُنْتَ فَاعِلًا قُلْتُ نَعَمْ وَالَّذِي أَكْرَمَكَ فَقَالَ إِنَّهُمُ الْآنَ لَيُقْرَوْنَ فِي أَرْضِ غَطَفَانَ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ غَطَفَانَ فَقَالَ نَحَرَ لَهُمْ فُلَانٌ جَزُورًا فَلَمَّا كَشَفُوا جِلْدَهَا رَأَوْا غُبَارًا فَقَالُوا أَتَاكُمُ الْقَوْمُ فَخَرَجُوا

دشمنه هغه اکوع د ے کوم چه سحر ستا سره وو. سلمه بن اکوع وائی دوه اسونه پاتے شو. هغوی هغے لره په ددغه تښ زنو نه (په منډو منډو) یو کندو کښې پریښودل ما هغه اسونه په رابنکودو د رسول الله ﷺ خواله راوستل. هلته ما ته عامر سره د یو بتکی د پیو او اوبو میلاؤ شو او یو بتکے ئے د اوبو رااخستے میلاؤ شو. ما اودس اوکړو. او پئ مے اوخنبل (الله اکبر د سلمه بن اکوع همت چه د سحر وختی نه په منډو منډو شپه شوه. اسونه ستړی شو اوښان ستړی شو خلق مړهٔ شو اسباب پاتے شو خو سلمه نهٔ ستړے شو نهٔ ئے په توله ورځ کښې څهٔ اوخوړل اوخنبل دا تول د الله امداد وو) بیا د جناب رسول الله ﷺ خواله راغلم حضرت ﷺ د هغه اوبو سره وو د کومے نه چه ما تښ زن زغلولی وو. ما اوکتل چه حضرت ﷺ ټول اوښان اخستے دی او ټول څیزونه چه کوم ما د مشرکانو نه اخستی وو ټولے نیزے او څادرونه او بلال د هغه اوښانو نه کوم چه ما اخستی وو یو اوښ ذبح کړو. او هغه د جناب رسول الله ﷺ دپاره د هغے اینه او کوب وریتولو ما عرض اوکړو یا رسول الله ما ته اجازت راکړه د لښکر نه د سلو سړو د انزولو او بیا زهٔ په دغه تښ زنو پسے ځم او چه د هغوی نه باقی یو سړے پاتے نهٔ شی چه هغه خبر ورکړی (او خپل قوم ته لاړ شی یعنی ټولو لره وژنمه) دد ے په اوریدو سره حضرت ﷺ مسکے شو تردے پورے چه نواجذ غاښونه د حضرت ښکاره شول د انګار په رڼا کښې حضرت ﷺ اوفرمائیل اے سلمه ته دا کولے شے. ما اووے آو قسم دے په هغه ذات چه تا له ئے لوئی والے درکړے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه خو اوس د غطفان سرحد ته اورسیدل او هلته د هغوی میلمستیا کیږی. په دے کښې یو سړے د غطفان نه راغے هغهٔ اووے فلانی سړی د هغوی دپاره اوښ حلال

هَارِبِينَ فَلَمَّا أَصْبَحْنَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ خَيْرَ فُرْسَانِنَا الْيَوْمَ أَبُو قَتَادَةَ وَخَيْرَ رَجَّالَتِنَا سَلَمَةُ قَالَ ثُمَّ أَعْطَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمَيْنِ سَهْمَ الْفَارِسِ وَسَهْمَ الرَّاجِلِ فَجَمَعَهُمَا لِي جَمِيعًا ثُمَّ أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهُ عَلَى الْعَضْبَاءِ رَاجِعِينَ إِلَى الْمَدِينَةِ قَالَ فَبَيْنَمَا نَحْنُ نَسِيرُ قَالَ وَكَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ لَا يُسْبَقُ شَدًّا قَالَ فَجَعَلَ يَقُولُ أَلَا مُسَابِقٌ إِلَى الْمَدِينَةِ هَلْ مِنْ مُسَابِقٍ فَجَعَلَ يُعِيدُ ذٰلِكَ قَالَ فَلَمَّا سَمِعْتُ كَلَامَهُ قُلْتُ أَمَا تُكْرِمُ كَرِيمًا وَلَا تَهَابُ شَرِيفًا قَالَ لَا إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ بِأَبِي وَأُمِّي ذَرْنِي فَلِأُسَابِقَ الرَّجُلَ قَالَ إِنْ شِئْتَ قَالَ قُلْتُ اذْهَبْ إِلَيْكَ وَثَنَيْتُ رِجْلَيَّ فَطَفَرْتُ فَعَدَوْتُ قَالَ فَرَبَطْتُ عَلَيْهِ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ أَسْتَبْقِي نَفَسِي ثُمَّ عَدَوْتُ فِي إِثْرِهِ فَرَبَطْتُ عَلَيْهِ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ ثُمَّ إِنِّي رَفَعْتُ حَتَّى أَلْحَقَهُ قَالَ فَأَصُكُّهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ قَالَ قُلْتُ قَدْ سُبِقْتَ وَاللهِ قَالَ أَنَا أَظُنُّ قَالَ فَسَبَقْتُهُ إِلَى الْمَدِينَةِ قَالَ فَوَاللهِ مَا لَبِثْنَا إِلَّا ثَلَاثَ لَيَالٍ

کړے وو په دے کښې هغوی ته ګرد معلوم شو هغوی اووے خلق راغے نو د هغه ځائے نه هم پاڅیدل اوتختیدهٔ. هر کله چه سحر شو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل نن ورځ زمونږ په سورو کښې بهتر سوار ابوقتاده دے او پیادؤ کښې د ټولو نه اوچت سلمه بن الاکوع دے. سلمه وائی بیا رسول الله ﷺ ما ته دوه حصے راکړے یوه حصه د سوار او یوه د پیاده. او دواړه ئے خاص ما ته راکړے. ددے نه پس حضرت ﷺ زهٔ د ځان سره په غضباء باندے کینښنولم مدینے ته د واپس کیدو په وخت مونږ روان وو چه یو انصاری چه هغه به په منډه کښې د چا نه روستو نهٔ پاتے کیدو داسے اووئیل څوك شته دے چه مدینے ته ځمانه مخکښې په منډه لاړ شی. او بار بار به ئے دا وینا کوله. هر کله چه ما د هغهٔ دا وینا واوریده نو ورته مے اووے تهٔ د عزتمندو عزت نهٔ کوے او د شریفانو نه نهٔ یریږے. هغهٔ اووے نه البته د رسول الله ﷺ عزت کوم ما عرض اوکړو یا رسول الله! خما پلار مور دِ ستا نه قربان شی. مالره پریږدوی زهٔ به ددے سړے نه مخکښې شم په منډه کښې. حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده ستا زړهٔ غواړی پس ما اووے زهٔ راځم ستاسو په طرف او ما خپله خپه کړه کړه او ټوپ مے کړو. بیا ما منډه کړه او هر کله چه یو یا دوه لوړے باقی پاتے شوے نو ما خپل ځان دمه کړو او د هغهٔ نه مے روستو منډه وهله او هر کله چه یو یا دوه لوړے باقی پاتے شوی نو ساه مے برابر کړه او بیا چه مے منډه کړه نو د هغهٔ سره یو ځائے شوم. تر دے پورے چه د دواړو اوږو په مینځ کښې مے ورته یو سوك ورکړو. او ما اووے چه قسم په خدا ے اوس زهٔ مخکښې شومه بیا د هغهٔ نه مخکښې مدینے ته اورسیدم (نو معلومه شوه چه بے دعوض نه مسابقت صحیح دے او په عوض کښې خلاف دے) بیا قسم په خدائے چه مونږ صرف درے ورځے حصار پاتے

حَتّٰى خَرَجْنَا إِلَى خَيْبَرَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَعَلَ عَمِّي عَامِرٌ يَرْتَجِزُ بِالْقَوْمِ تَاللهِ لَوْلَا اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا وَنَحْنُ عَنْ فَضْلِكَ مَا اسْتَغْنَيْنَا فَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا وَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا قَالَ أَنَا عَامِرٌ قَالَ غَفَرَ لَكَ رَبُّكَ قَالَ وَمَا اسْتَغْفَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِإِنْسَانٍ يَخُصُّهُ إِلَّا اسْتُشْهِدَ قَالَ فَنَادٰى عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ عَلٰى جَمَلٍ لَهُ يَا نَبِيَّ اللهِ لَوْلَا مَا مَتَّعْتَنَا بِعَامِرٍ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْنَا خَيْبَرَ قَالَ خَرَجَ مَلِكُهُمْ مَرْحَبٌ يَخْطِرُ بِسَيْفِهِ وَيَقُولُ قَدْ عَلِمَتْ خَيْبَرُ أَنِّي مَرْحَبُ شَاكِي السِّلَاحِ بَطَلٌ مُجَرَّبُ إِذَا الْحُرُوبُ أَقْبَلَتْ تَلَهَّبُ قَالَ وَبَرَزَ لَهُ عَمِّي عَامِرٌ فَقَالَ قَدْ عَلِمَتْ خَيْبَرُ أَنِّي عَامِرٌ شَاكِي السِّلَاحِ بَطَلٌ مُغَامِرٌ قَالَ فَاخْتَلَفَا ضَرْبَتَيْنِ فَوَقَعَ سَيْفُ مَرْحَبٍ فِي تُرْسِ عَامِرٍ وَذَهَبَ عَامِرٌ يَسْفُلُ لَهُ فَرَجَعَ سَيْفُهُ عَلٰى نَفْسِهِ فَقَطَعَ أَكْحَلَهُ فَكَانَتْ فِيهَا نَفْسُهُ قَالَ سَلَمَةُ فَخَرَجْتُ فَإِذَا نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُونَ بَطَلَ عَمَلُ

شو. دد ے نه پس د خیبر په طرف اووتو د رسول الله ﷺ سره نو خما ترهٔ عامر رجز لوستل شروع کړل. قسم دے په الله که چرے خدائے تعالی هدایت نهٔ وے کړے نو مونږ به لاره نهٔ وه موندلے او نهٔ به مو صدقه ورکړے وه او نهٔ به مو مونځ کړے وو. او مونږ ستا د رحم نه بے پرواه شوی نهٔ یو. تهٔ محکم کړه قدمونه زمونږ که چرے مونږ د کافرانو سره مخامخ شو او خپل رحمت او تسلی نازله کړه په مونږ باندے. رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا څوك دے؟ هغهٔ اوونیل زهٔ عامر یم. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله د اوبخښی تا لره سلمه وائی رسول الله ﷺ چه به هر کله د چا دپاره په خاص طور باندے استغفار اوکړو نو هغه به ضرور شهید کیدو نو حضرت عمر آواز اوکړو او هغه په خپل اوښ باندے وو اے د الله نبی! تاسو مونږ ته فائده ولے را نهٔ کړه د عامر نه سلمه وائی بیا چه هر کله مونږ خیبر ته راغلو نو د هغے بادشاه مرحب توره پرقوله او رااووتو او دا رجزئے لوستلو. قَدْ عَلِمَتْ خَيْبَرُ أَنِّي مَرْحَبٌ. شَاكِي السِّلَاحِ بَطَلٌ مُجَرَّبٌ. إِذَا الْحُرُوبُ أَقْبَلَتْ تَلَهَّبُ يعنی خیبر ته معلومه ده چه زهٔ مرحب یم. پوره وسله بند بهادر ازمائیلے شوے. هر کله چه جنګونه راشی نو شغلے الوزوی. دد ے په اوریدو خما ترهٔ عامر رااوتو د هغهٔ د مقابلے دپاره. او هغوی دا رجز اولوستهٔ. قَدْ عَلِمَتْ خَيْبَرُ أَنِّي عَامِرٌ. شَاكِي السِّلَاحِ بَطَلٌ مُغَامِرٌ يعنی خیبر پوهه دے چه زهٔ عامر یم پوره وسله بند په جنګ کښې تو تونکے. بیا دواړو یو یو ګذار اوکړو. نو د مرحب توره خما د ترهٔ عامر په ډهال باندے اولګیده. او عامر دلاندے نه ګذار کول غوښتلو نو د هغهٔ توره په هغه پخله اولګیده. او شه رګ ئے کټ شو. او د هغے نه وفات شو. سلمه وائی بیا زهٔ رااووتم نو د رسول الله ﷺ څو صحابه مے اولیدل چه وئیل ئے د عامر عمل لغوه شو هغه

عَامِرٍ قَتَلَ نَفْسَهُ قَالَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ بَطَلَ عَمَلُ عَامِرٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ ذٰلِكَ قَالَ قُلْتُ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِكَ قَالَ كَذَبَ مَنْ قَالَ ذٰلِكَ بَلْ لَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ أَرْسَلَنِي إِلَى عَلِيٍّ وَهُوَ أَرْمَدُ فَقَالَ لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ رَجُلًا يُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ أَوْ يُحِبُّهُ اللهُ وَرَسُولُهُ قَالَ فَأَتَيْتُ عَلِيًّا فَجِئْتُ بِهِ أَقُودُهُ وَهُوَ أَرْمَدُ حَتَّى أَتَيْتُ بِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَسَقَ فِي عَيْنَيْهِ فَبَرَأَ وَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ وَخَرَجَ مَرْحَبٌ فَقَالَ قَدْ عَلِمَتْ خَيْبَرُ أَنِّي مَرْحَبُ شَاكِي السِّلَاحِ بَطَلٌ مُجَرَّبُ إِذَا الْحُرُوبُ أَقْبَلَتْ تَلَهَّبُ فَقَالَ عَلِيٌّ أَنَا الَّذِي سَمَّتْنِي أُمِّي حَيْدَرَهْ كَلَيْثِ غَابَاتٍ كَرِيهِ الْمَنْظَرَهْ أُوفِيهِمُ بِالصَّاعِ كَيْلَ السَّنْدَرَهْ قَالَ فَضَرَبَ رَأْسَ مَرْحَبٍ فَقَتَلَهُ ثُمَّ كَانَ الْفَتْحُ عَلَى يَدَيْهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ

پخپله خپل خان اووژلو ددے په اوریدو زۀ د رسول الله ﷺ خواله په ژړا راغلم او عرض مے اوکړو یا رسول اللهؐ د عامر عمل لغوه شو حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك وائی. ما اووے ستاسو بعضے صحابه وائی. حضرت ﷺ اوفرمائیل دروغ دی چه څوك وائی بلکه هغۀ لره دوچند ثواب دے. بیا رسول الله ﷺ زۀ د حضرت علیؓ خواله اولیږلم د هغوی سترګے سوزیدلے. حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ دا سے سړی له نخښنه ورکوم چه هغه دوست ګڼړی الله او د هغۀ رسول لره یا الله تعالی او رسولؐ دۀ لره دوست ګڼړی (د ابن هشام په روایت کښ دومره زیاته ده چه الله تعالی به فتح ورکړی د هغۀ په لاسونو او هغه تختیدو والانۀ دے) سلمه وائی بیا زۀ د حضرت علیؓ خواله لاړم او هغه مے په رابنکودو راوستو د هغوی سترګے سوزیدلے تردے پورے چه د رسول الله ﷺ خواله مے راوستو. حضرت ﷺ د هغوی په سترګو کښ خپلے لاړے مبارکے پوری کړے هغه په هغه وخت ښه شولے. بیا حضرت ﷺ هغوی ته نخښنه ورکړه او مرحب راووتو او دائے اووے. قَدْ عَلِمَتْ خَيْبَرُ أَنِّي مَرْحَبُ۔ شَاكِي السِّلَاحِ بَطَلٌ مُجَرَّبُ۔ إِذَا الْحُرُوبُ أَقْبَلَتْ تَلَهَّبُ۔ حضرت علیؓ ددے په جواب کښ دا اووے. أَنَا الَّذِي سَمَّتْنِي أُمِّي حَيْدَرَهْ۔ كَلَيْثِ غَابَاتٍ كَرِيهِ الْمَنْظَرَهْ۔ أُوفِيهِمُ بِالصَّاعِ كَيْلَ السَّنْدَرَهْ۔ یعنی زۀ هغه یم چه خما مور خما نوم حیدر ایخودے دے په مثل د هغۀ زمری کوم چه په ځنګلو کښ وی (یعنی ببرشیر) زیات یرونکی صورت والا (چه د هغه په لیدو سره یره پیدا کیږی) زۀ خلقو ته د یو اوږی په بدله سندره ورکوم (سندره د صاع نه لویه پیمانه ده یعنی هغه خو پ ما سپکه حمله کوی او زۀ د هغۀ کار ختموم) بیا حضرت علیؓ د مرحب په سر باندے یو ګذار ورکړو او هغه د هغے سره جهنم ته روان شو. ددے

نه پس الله پاك فتح ورکړه د هغهٔ په لاسونو باندے[1].

---

۱ حیدر وئیلے شی زمری ته. او هر کله چه حضرت علیؓ پیدا شو نو د هغوی نوم د هغهٔ مور اسد کیخودے وو. اسد وئیلے شی زمری ته او مرحب په خوب کښې لیدلے وو چه یو زمرے راغے او دے ئے مات کړو. نو حضرت علیؓ ورته دا خبره ذکر کړله دد ے دپاره چه ددهٔ په زړهٔ کښې یره پیدا شی. او څنې علماؤ وئیلی دی چه د حضرت علیؓ مور هر کله چه هغه پیدا شو نو د هغهٔ نوم ئے اسد کیخودهٔ چه ددهٔ د نیکهٔ نوم وو. اسد بن هشام بن عبد مناف اوطالب په سفر کښې وو. هر کله چه د سفر نه واپس راغے نو هغوی پرے علی نوم کیخودو او اسد ته حیدر وئیلے شی. ولے چه هغه سخت او غلیظ وی. حیدر د حادر نه او د حادر معنٰی سخت او پهلوان ده. مراد د حضرت علیؓ دادے چه زهٔ د زمری پشان جرأت او قوت او بهادری لرم چه حقیقت دے. په سیرة ابن هشام کښې په اسناد د ابورافع سره چه ازاد کړے غلام وو د رسول اللهﷺ روایت کړے دے. چه مونږ د حضرت علیؓ سره وو هر کله چه رسول اللهﷺ هغوی ته خپل بیرغ ورکړه او د قلعه فتح کولو دپاره ئے اولیږو. حضرت علیؓ چه هر کله قلعه ته نزدے اورسیدو نو قلعه والا بهر راووتل او هغوی جنګیدل شروع کړل. یو یهودی په حضرت علی باندے ګزار اوکړو او د هغوی نه ئے ډهال اوغورځوو. هغوی یوه دروازه چه د قلعه په خوا کښې پرته وه اوچته کړه او هغه ئے ډهال کړله بیا هغه دروازه د جنګ د فتح کیدو پورے د هغوی په لاس کښې وه. هر کله چه د جنګ نه فارغ شو نو هغه دروازه ئے اوغورځوله. ابورافع وائی ما او اووهٔ سړو نورو د هغهٔ دروازے د اُلټه کولو کوشش اوکړو خو اُلټه نشوه. (یعنی دومره درنه وه.) سبحان الله د حضرت علیؓ کرم الله وجهه طاعت او شجاعت او همت خداداد وو لوئے لوئے بهادران چه د هغوی په عربو کښې شهرت وو حضرت علیؓ په ډیره اسانئ سره اووژل. او خلق په حیرانتیا کښې پاتے شو. نووی وئیلی دی صحیح داده چه حضرت علیؓ مرحب لره قتل کړو او څنو دا وئیلی دی چه مرحب لره محمد بن مسلمه قتل کړے دے. ابن عبد البر په خپل کتاب د ر ر فی مختصر الیسر کښې لیکلی دی چه ابن اسحٰق وئیلی دی چه د مرحب قاتل محمد بن مسلمه وو او نورو خلقو وئیلی دی چه قاتل دهغهٔ حضرت علیؓ وو. ابن عبد البر وئیلی دی زمونږ په نز ددغه صحیح دے بیا روایت کړے دے هغوی په خپل اسناد سره د سلمه بن بریده نه او هم دغسے ابن اثیر وئیلی دی. صحیح قول چه په هغے باندے اکثر اهل حدیث او اهل سیر متفق دی څه د مرحب قاتل حضرت علیؓ وو راضی د وی الله تعالٰی د هغوی نه انتهٰی په سیرة ابنِ هشام کښې دی چه ابن اسحٰق وئیلی دی حدیث بیان کړے دے ما ته عبدالله بن سهل هغوی اوریدلی دی د جابر بن عبد اللهؓ نه چه اوفرمائیل رسول اللهﷺ څوك به راواوځی د مرحب سره د جنګ کولو دپاره. محمد بن مسلمه اووے زهٔ خم پرون خما رور وژلے شوے دے. او په الله قسم دے چه ما ته جوش راغلے دے. حضرتﷺ اوفرمائیل بنه ده لاړ شه. او دُعائے اوکړه یا الله د محمد بن مسلمه مدد اوکړه. هر کله چه د یو بل سره نزدے شول نو د یوے اونے ویخ له راغلل او هر یو به د هغے اونے نه پناه اخسته د خپل مقابل د حملے نه. لیکن هر یو په توره سره هغه اونه کټ کول شروع کړل ترد ے پورے چه دواړو ته مخه کولاؤ شوه یو بل ته مخامخ شو ا ود هغه اونے صرف زیله ولاړه پاتے شوه. بیا مرحب په محمد حمله اوکړه هغوی په ډهال واخسته. لیکن توره په ډهال کښې ننوته او په هغے کښې اونخته. بیا محمد ګذار ورکړو او مرحب مړ کړے شو. ابن اسحٰق وائی د مرحب نه پس د هغهٔ رور یاسر راووتو او آواز ئے اوکړو څوك به راواوځی خما سره جنګ ته. زبیر بن عوامؓ د حضرتﷺ د ترور خوئ د هغهٔ مقابلے ته راووتو. صفیهؓ د عبد المطلب لور د زبیر مور حضرتﷺ ته اووے. یا رسول اللهﷺ هغه به خما خوئے مړ کړی. حضرتﷺ اوفرمائیل نه ستا خوئ که خدائے غواړی نو هغه به مړ کړی بیا بیا دغه شان اوشوه چه زبیر هغه مردود لره جهنم ته اولیږهٔ نووی وئیلی دی په دے حدیث کښې د حضرتﷺ څلور معجزے منقول دی. یو خو د حدیبیے اوبهٔ زیاتیدل. دویم د

عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ بِهٰذَا الْحَدِيثِ بِطُولِهِ عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ بِهٰذَا

د عکرمه بن عمار نه هم دا حدیث دومره اوږد روایت کړے شوے دے.

بَاب قَوْلِ اللهِ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ الْآيَةَ

باب: د آیت وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ د نازلیدو بیان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ ثَمَانِينَ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ هَبَطُوا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَبَلِ التَّنْعِيمِ مُتَسَلِّحِينَ يُرِيدُونَ غِرَّةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ فَأَخَذَهُمْ سِلْمًا فَاسْتَحْيَاهُمْ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ

د انس بن مالك نه روایت دے چه اتیا سړی د مکے اوسیدونکی په رسول الله ﷺ دپاسه راکوز شو د تنعیم د غر نه. هغوی دا غوښتله چه حضرت ﷺ ته دهوکه ورکړی او په غفلت کښ پرے حمله اوکړی بیا حضرت ﷺ هغوی اونیول او قید ئے کړل. روستو ددے نه حضرت ﷺ پریخودل. نو الله دا ایت نازل کړو وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ الخ یعنی الله هغه ذات دے چا چه منع کړو د هغوی د لاسونو نه تاسو لره (او د هغوی فریب څه کار او نه کړو) او ستاسو لاسونو لره د هغوی نه (چه تاسو هغوی لره قتل نه کړو) د مکے په سرحد کښ ستاسو د فتح کولو نه پس په هغوی باندے.

بَاب غَزْوَةِ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ

باب: د ښځو د سړو سره په جنګ کښ شریك کیدل

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أُمَّ سُلَيْمٍ اتَّخَذَتْ يَوْمَ حُنَيْنٍ خِنْجَرًا فَكَانَ مَعَهَا فَرَآهَا أَبُو طَلْحَةَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هٰذِهِ أُمُّ سُلَيْمٍ مَعَهَا خِنْجَرٌ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هٰذَا الْخِنْجَرُ قَالَتِ اتَّخَذْتُهُ إِنْ دَنَا مِنِّي أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ بَقَرْتُ بِهِ بَطْنَهُ فَجَعَلَ

د انس نه روایت دے چه ام سلیم (د هغوی مور) د حنین په ورځ یو خنجر واخستو هغه د هغوی سره وه. دا ابوطلحه اولیدله نو عرض ئے اوکړو یا رسول الله ! دا أم سلیم ده. او د هغے سره یو خنجر دی حضرت ﷺ تپوس اوکړو دا خنجر څنګه دے. ام سلیم اووے یا رسول الله ! کچرے یو مشرك ځما خواله راشي نو په دی خنجر به د هغهٔ ګیډه او څیرم ددے په اوریدو رسول الله ﷺ مسکے شو بیا ام

حضرت علیؓ سترګے فوراً ښه کیدل. دریم د حضرت علیؓ د فتح خبر ورکول چه د هغے په بل روایت کښ تصریح موجوده ده. څلورم خبر ورکول چه هغه نقب زن یعني داکوان اوس په غطفان کښ دی. انتهی.

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُ قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ اقْتُلْ مَنْ بَعْدَنَا مِنَ الطُّلَقَاءِ انْهَزَمُوا بِكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ إِنَّ اللهَ قَدْ كَفَى وَأَحْسَنَ

سلیم اووے یا رسول اللهؐ زمونږ نه سوا چه کوم خلق دروغژن دی (د فتح مکے په ورځ هغوی لره قتل کړې هغوی شکست اوموندو ستاسو نه (دد ے په وجه مسلمانان شول او د زړهٔ نه مسلمانان شوی نهٔ دی) حضرتﷺ اوفرمائیل اے ام سلیمؓ د کافرانو د شر نه الله تعالی خلاصے راکړو او هغه په مونږ باندے احسان اوکړو (اوس ستا د خنجر ترلو ضرورت نشته)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فِي قِصَّةِ أُمِّ سُلَيْمٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ مِثْلَ حَدِيْثِ ثَابِتٍ

د انس بن مالكؓ د ام سلیم قصه پورتنے روایت کوم چه د ثابت راوی نه مروی دے. دغسے مروی دے.

عَنْ أَنَسٍؓ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ مَعَهُ إِذَا غَزَا فَيَسْقِينَ الْمَاءَ وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى

د حضرت انسؓ نه روایت دے وائی چه رسول ا للهﷺ به ام سلیم او څو د انصارو ښځو لره په جهاد کښں د ځان سره ساتلے. هغوی به اوبهٔ څکولے او د زخمیانو دوائی به ئے کوله[1]

عَنْ أَنَسٍؓ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ انْهَزَمَ نَاسٌ مِنَ النَّاسِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو طَلْحَةَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُجَوِّبٌ عَلَيْهِ بِحَجَفَةٍ قَالَ وَكَانَ أَبُو طَلْحَةَ رَجُلًا رَامِيًا شَدِيدَ النَّزْعِ وَكَسَرَ يَوْمَئِذٍ قَوْسَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا قَالَ فَكَانَ الرَّجُلُ يَمُرُّ مَعَهُ الْجَعْبَةُ مِنَ النَّبْلِ فَيَقُوْلُ انْثُرْهَا لِأَبِي طَلْحَةَ قَالَ وَيُشْرِفُ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ إِلَى الْقَوْمِ فَيَقُوْلُ أَبُو

د حضرت انسؓ نه روایت دے هر کله چه دأحد ورځ شوه نو خلقو شکست اوموندو او رسول ا للهﷺ ئے پریخودو. او ابوطلحهؓ د حضرتﷺ مخے ته وو او د ډهال پرده ئے په حضرتؐ باندے کړے وه. او ابوطلحه لوئے تیر انداز وو. د هغوی په دغه ورځ دوه یا درے لیندے ماتے شوے وے.نو هر کله چه به یو سړے د غشو ترکش رااخستے رااووتو نو حضرتﷺ به هغهٔ ته اوفرمائیل دا غشی کیږده د ابوطلحهؓ دپاره. او حضرتﷺ چه به کافرانو ته د کتلو دپاره سر اوچت کړو نو ابوطلحهؓ به ورته اووے اے د الله نبی ځماپلار مور د ستا نه قربان شی تاسو سر

---

[1] نووی ونیلی دی دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه ښځو لره په جهاد کښں وتل صحیح دی او د هغوی نه کار اخستل اوبهٔ څکول یا دوائی وغیره صحیح دی. او دا دوائی به هغه د خپلو محرمو کوی یا د خاوند او د غیر وهم کولے شی په دے شرط چه بے ضرورته به وربسره بدن نه لګوی او د ضرورت په ځائے جائز دی. انتهی

طَلْحَةَ يَا نَبِيَّ اللهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي لَا تُشْرِفْ لَا يُصِبْكَ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ الْقَوْمِ نَحْرِي دُونَ نَحْرِكَ قَالَ وَلَقَدْ رَأَيْتُ عَائِشَةَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ وَأُمَّ سُلَيْمٍ وَإِنَّهُمَا لَمُشَمِّرَتَانِ أَرَى خَدَمَ سُوقِهِمَا تَنْقُلَانِ الْقِرَبَ عَلَى مُتُونِهِمَا ثُمَّ تُفْرِغَانِهِ فِي أَفْوَاهِهِمْ ثُمَّ تَرْجِعَانِ فَتَمْلَآنِهَا ثُمَّ تَجِيئَانِ تُفْرِغَانِهِ فِي أَفْوَاهِ الْقَوْمِ وَلَقَدْ وَقَعَ السَّيْفُ مِنْ يَدَيْ أَبِي طَلْحَةَ إِمَّا مَرَّتَيْنِ وَإِمَّا ثَلَاثًا مِنَ النُّعَاسِ

مهٔ اوچتوئ. داسې نه چه د كافرانو يو غشے په تاسو باندے اولګي. خما مرئ به ستاسو د مباركې مرئ برابر وي (يعنى ابوطلحه رضی الله عنه خپله مرئ مخكښ كړے وه چه كچرے غشے وغيره راشي نو په ما به لګي. انس رضی الله عنه وائي ما د حضرت عائشے رضی الله عنها بنت ابى بكر رضی الله عنه او ام سليم رضی الله عنها لره اوليدے چه هغوى دواړو كپړے اوچتے كړے وے (لكه څنګه چه د كار په وخت څوك اوچتوي) او ما د هغوى د پنډئ پانزيب لره ليدلو. هغوى دواړو به مشكونه راوړل پخپله شا باندے او اوبهٔ به ئې وركولے خلقو ته په خلهٔ كښې. بيا به تلے او اوبهٔ به ئې راوړے او خلقو ته به ئې په خلهٔ كښې غورځولے. او د ابوطلحه رضی الله عنه په مخكښې دوه درے ځله توره پريوته د خوب د وجے نه[1].

بَابُ النِّسَاءِ الْغَازِيَاتِ يُرْضَخُ لَهُنَّ وَلَا يُسْهَمُ وَالنَّهْيِ عَنْ قَتْلِ صِبْيَانِ أَهْلِ الْحَرْبِ

باب : كومے ښځے چه په جهاد كښې شريكے شي نو هغوى ته به انعام ملاويږي او حصه به ورته نهٔ ملاويږي. او ماشومانو لره قتل كول منع دي

عَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ أَنَّ نَجْدَةَ كَتَبَ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْأَلُهُ عَنْ خَمْسِ خِلَالٍ

د يزيد بن هرمز نه روايت دے نجده (حروري د خوارجو سردار) عبد الله بن عباس رضی الله عنه ته د پنځهٔ خبرو د تپوس په باره كښې اوليكل. عبد الله بن

[1] د دے نه د ابوطلحه رضی الله عنه بے حده وفاداري او جان نثاري ثابتيږي. په سيرة ابن هشام كښې دي چه ابودجانه خپله شا د كافرانو په طرف كړے وه او په حضرت صلی الله علیه وسلم ئې پرده كړے وه. او غشي به د هغهٔ په شا باندې برابر لګيدل. او سعد ابن ابى وقاص رضی الله عنه هم كافرانو لره په غشو ويشتل او رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغوى له غشي وركول. او ورته به ئې فرمائيل اوله اے سعده د محمد پلار او مور دِ ستا نه قربان شي. او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم پخپله غشي ويشتل تردے پورے چه د هغهٔ د ليندے يوه غاړه ماته شوه. بيا هغه لينده قتاده بن النعمان واخسته او د هغهٔ سره وه. د ابوقتاده سترګه د كافرو په ګذار سره اووته او په انتګى باندے راپريوته رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه سترګه په خپل لاس مبارك سره په خپل ځائے كينبوده هغه بالكل صحيح شوه بلكه د مخكښې نه ئې نظر ښهٔ زيات شو. انتهىٰ.
د اُحد د ورځے پورے د پردے حكم نهٔ وو راغلے. نو په كتلو كښې څهٔ قباحت نهٔ وو. يا دا چه هغوى قصداً نهٔ وو كتلي بلكه د هغوى نظر پريوتهٔ

فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَوْلَا أَنْ أَكْتُمَ عِلْمًا مَا كَتَبْتُ إِلَيْهِ كَتَبَ إِلَيْهِ نَجْدَةُ أَمَّا بَعْدُ فَأَخْبِرْنِي هَلْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِالنِّسَاءِ وَهَلْ كَانَ يَضْرِبُ لَهُنَّ بِسَهْمٍ وَهَلْ كَانَ يَقْتُلُ الصِّبْيَانَ وَمَتَى يَنْقَضِي يُتْمُ الْيَتِيمِ وَعَنِ الْخُمُسِ لِمَنْ هُوَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ ابْنُ عَبَّاسٍ كَتَبْتَ تَسْأَلُنِي هَلْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِالنِّسَاءِ وَقَدْ كَانَ يَغْزُو بِهِنَّ فَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى وَيُحْذَيْنَ مِنَ الْغَنِيمَةِ وَأَمَّا بِسَهْمٍ فَلَمْ يَضْرِبْ لَهُنَّ وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَقْتُلُ الصِّبْيَانَ فَلَا تَقْتُلِ الصِّبْيَانَ وَكَتَبْتَ تَسْأَلُنِي مَتَى يَنْقَضِي يُتْمُ الْيَتِيمِ فَلَعَمْرِي إِنَّ الرَّجُلَ لَتَنْبُتُ لِحْيَتُهُ وَإِنَّهُ لَضَعِيفُ الْأَخْذِ لِنَفْسِهِ ضَعِيفُ الْعَطَاءِ مِنْهَا فَإِذَا أَخَذَ لِنَفْسِهِ مِنْ صَالِحِ مَا يَأْخُذُ النَّاسُ فَقَدْ ذَهَبَ عَنْهُ الْيُتْمُ وَكَتَبْتَ تَسْأَلُنِي عَنِ الْخُمُسِ لِمَنْ هُوَ وَإِنَّا كُنَّا نَقُولُ هُوَ لَنَا فَأَبَى عَلَيْنَا قَوْمُنَا ذَاكَ

عباس اووے کچرے د علم پټولو سزا نۀ وے نو ما به دۀ ته جواب نۀ وو ليکلے (خکه چه هغه مردود د خوارجو بدعتيانو سردار وو او حضرت ﷺ د هغوی په شان کښې فرمائيلی دی چه هغوی د دين نه داسے اوځی لکه غشے چه د ښکار نه اوځی) نجده دا ليکلی وو سلام نه بعد تۀ اوښايه چه رسول الله ﷺ په جهاد کښې ښځو لره شريکے کړے وے؟ او هغوی له به ئے څۀ حصه ورکوله (د غنميت د مال نه) ؟ او اے حضرت ﷺ به ماشومانو لره هم وژل؟ او د يتيم يتيمی کله ختميږی؟ او خُمس د چا دے؟ عبد الله بن عباس جواب اوليکل چه تا ليکلی دی څما نه تپوس کوے چه رسول الله ﷺ په جهاد کښې ښځو لره شريکے کړے وے نو بيشکه چه شريکے کړے ئے وے هغوی به د زخميانو دوائی کوله او هغوی ته به څۀ انعام ميلاويدۀ او حصه خو هغوی ته نۀ وه لګولے شوے (د ابوحنيفه او ثوری او ليث او شافعی او جمهورو علماؤ دغه قول دے. ليکن اوزاعی په نز به ښځے له حصه لګولے شی کچرے هغه جنګ کوی يا د زخميانو علاج کوی. او د مالك په نز به هغے ته انعام هم نۀ ميلاويږی. او رسول الله ﷺ بچو لره (د کافرانو) نه وژلو ته هم بچو لره مۀ وژنه (دغه شان ښځو لره. ليکن کۀ بچی او ښځے جنګ کوی نو بيائے وژل جائز دی) او تا ليکلی دی څما نه تپوس کوے چه د يتيم يتيمی کله ختميږی. بعضے سړے داسے وی چه د هغۀ په مخ ګيره راشی خو بيا هم دلين دين شعور نۀ لری. (دغه يتيم دے يعنی د هغۀ حکم د يتيمانو په شان دے) بيا چه هر کله د خپلے فائدے دپاره هغه ښے خبرے کول شروع کړی لکه څنګه چه خلق کوی نو د هغۀ يتيمی ختمه شی. او تا ليکلی دی څما نه د تپوس کړے دے چه خمس د چا دے. نو موږ خو دا وايو چه خمس زموږ دپاره دے خو

زمونږه قوم او نه منله[1].

عَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ أَنَّ نَجْدَةَ كَتَبَ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْأَلُهُ عَنْ خِلَالٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ حَاتِمٍ وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَقْتُلُ الصِّبْيَانَ فَلَا تَقْتُلِ الصِّبْيَانَ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تَعْلَمُ مَا عَلِمَ الْخَضِرُ مِنَ الصَّبِيِّ الَّذِي قَتَلَ وَزَادَ إِسْحٰقُ فِي حَدِيثِهِ عَنْ حَاتِمٍ وَتُمَيِّزَ الْمُؤْمِنَ فَتَقْتُلَ الْكَافِرَ وَتَدَعَ الْمُؤْمِنَ

د يزيد بن هرمز نه روايت دے . نجده ، ابن عباسؓ ته د څو خبرو د تپوس په باره كښې اوليكل بيائے بيان كړو حديث لره په دغه شان په دے روايت كښې دادى چه رسول الله ﷺ به ماشومانو لره نه وژل تـه هم ماشومانو لره مه وژنه. مګر كۀ تا ته داسے علم وى لكه څنګه چه حضرت خضر عليه السلام ته وو هر كله چه هغوى يو هلك لره وژلے وو. او د اسحٰق په روايت كښې دومره زياته ده چه تۀ فرق اوكړے د مؤمن بيا قتل كړے كافر لره. او پريږدے مؤمن لره) يعنى تۀ پيژندګلو كولے شے چه كوم بچے لوئے شى مؤمن به وى او كوم به كافر وى او دا ګرانه ده ځكه قتل هم د بچو ناجائز دے)

عَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ قَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ بْنُ عَامِرٍ الْحَرُورِيُّ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْأَلُهُ عَنِ الْعَبْدِ وَالْمَرْأَةِ يَحْضُرَانِ الْمَغْنَمَ هَلْ يُقْسَمُ لَهُمَا وَعَنْ قَتْلِ الْوِلْدَانِ وَعَنِ الْيَتِيمِ مَتَى يَنْقَطِعُ عَنْهُ الْيُتْمُ وَعَنْ ذَوِي الْقُرْبٰى مَنْ هُمْ فَقَالَ لِيَزِيدَ اكْتُبْ إِلَيْهِ فَلَوْلَا أَنْ يَقَعَ فِي

د يزيد بن هرمز نه روايت دے وائى چه نجده بن عامر حرورى ابن عباسؓ ته اوليكل تپوس ئے اوكړو د هغوى نه چه غلام او ښځه كچرے په جهاد كښې شريك شى نو هغوى ته به حصه ميلاويږى يا نه. او د بچو قتل څنګه دے. او د بچو يتيمى كله ختميږى او ذوالقربىٰ (چه د هغے زكر په قرآن مجيد كښې دے چه په پنځمه حصه كښې به هغوى له حصه وركولے شى) څوك دى؟ ابن عباسؓ يزيد ته اووے تۀ اوليكه جواب هغۀ ته. او كچرے هغه په حماقت كښې

[1] نوويؒ وئيلى دى مراد د دے نه يتيمى حكم دے ورنه يتيمى په بلوغت سره ختميږى. رسول الله ﷺ فرمائيلى دى نشته دے يتيمى روستو د احتلام نه او په دے كښې دليل دے د شافعيؒ او مالكؒ او جمهورو علماؤ چه د يتيمى حكم په بلوغ سره نۀ خى او نۀ په عمر زياتيدو سره خى بلكه دا ضرورى ده چه په لين دين كښې هوښيار شى او ابوحنيفهؒ وئيلى دى هر كله چه هغه د پنځۀ ويشتو كالو شى نو د هغۀ مال هغۀ ته اوسپارئ ځكه چه په داسے عمر كښې سړے نيكۀ كيدے شى. چه اوس ئے هم عقل را نۀ شى نو كله به راځى. انتهى سره د زيادت

نوويؒ وئيلى دى مراد خمس دے او خمس چه په قرآن سره كوم حق دے د ذوالقربىٰ او علماؤ په دے كښې اختلاف كړے دے. د شافعيؒ دغه قول دے كوم چه د ابن عباسؓ دى چه هغه د ذوالقربىٰ حق دے يعنى د بنى هاشم او بنى مطلب او د قوم نه مراد د بنو اميه اميران دى چه هغوى دا خمس هم د حضرت ﷺ عزيزانو او سيدانو ته ورنۀ كړل پخپله ئے قبضه كړل

أُحْمُوقَةٍ مَا كَتَبْتُ إِلَيْهِ اكْتُبْ إِنَّكَ كَتَبْتَ تَسْأَلُنِي عَنِ الْمَرْأَةِ وَالْعَبْدِ يَحْضُرَانِ الْمَغْنَمَ هَلْ يُقْسَمُ لَهُمَا شَيْءٌ وَإِنَّهُ لَيْسَ لَهُمَا شَيْءٌ إِلاَّ أَنْ يُحْذَيَا وَكَتَبْتَ تَسْأَلُنِي عَنْ قَتْلِ الْوِلْدَانِ وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَقْتُلْهُمْ وَأَنْتَ فَلاَ تَقْتُلْهُمْ إِلاَّ أَنْ تَعْلَمَ مِنْهُمْ مَا عَلِمَ صَاحِبُ مُوسَى مِنَ الْغُلاَمِ الَّذِي قَتَلَهُ وَكَتَبْتَ تَسْأَلُنِي عَنِ الْيَتِيمِ مَتَى يَنْقَطِعُ عَنْهُ اسْمُ الْيُتْمِ وَإِنَّهُ لاَ يَنْقَطِعُ عَنْهُ اسْمُ الْيُتْمِ حَتَّى يَبْلُغَ وَيُؤْنَسَ مِنْهُ رُشْدٌ وَكَتَبْتَ تَسْأَلُنِي عَنْ ذَوِي الْقُرْبَى مَنْ هُمْ وَإِنَّا زَعَمْنَا أَنَّا هُمْ فَأَبَى ذٰلِكَ عَلَيْنَا قَوْمُنَا

پریوتلو والانۀ وے نو ما به هغۀ ته جواب نۀ وو لیکلے (یعنی ما ته دده خبرے خیال دے کچرے زۀ دده مسئلو جواب دۀ لره ورنۀ کړم نو هغه به د شرع خلاف په خبره د حماقت عمل اوکړی) اولیکه دا چه تا ما ته اولیکل تپوس د اوکړو چه ښځےاو غلام ته به حصه میلاویږی هر کله چه هغه په جهاد کښ شریك وی نو حال داد ےچه هغوی ته به حصه نۀ میلاویږی. البته انعام ورته میلاوید ے شی. (خومره چه امام مناسب اوګنړی. د شافعیؒ او ابوحنیفهؒ او د جمهورو علماؤ دغه قول دے. او د مالكؒ په نز غلام ته به انعام هم نۀ میلاویږی. لکه څنګه چه ښځی ته او د حسنؒ او ابن سیرنؒ او نخعیؒ او حکمؒ په نز کچرے غلام جنګ اوکړی نو هغۀ ته به هم حصه ورکیدے شی) او تا په لیکلو کښ تپوس کړے دی څما نه د بچو د قتل په باره کښ نو رسول اللهﷺ بچی نۀ دی قتل کړی او تۀ ئے هم مۀ قتلوه مګر کۀ تا ته داسے علم وی لکه د موسیٰؑ ملګری (حضرت خضرؑ) ته چه وو او تا په لیك کښ تپوس کړے دے د یتیم ہ باره کښ چه د هغۀ یتیمی به کله ختمیږی. نو د یتیم نوم د هغۀ نه نۀ ځی د کومے پورےچه بالغ شوے نۀ وی او عقل ورته راغلے نۀ وی. او تا لیکلی دی د ذوی القربیٰ تپوس دکړے دے نو دا څما په خیال کښ زمونږ خلق دی خو زمونږ قوم ئے نۀ منی.

عَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ قَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِهِ قَالَ أَبُو إِسْحٰقَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ بِشْرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بِهٰذَا الْحَدِيثِ بِطُولِهِ

د یزید بن هرمز نه روایت دے هغوی وئیلی دی چه نجده ابن عباسؓ ته خط اولیکۀ او د پورتنی حدیث پشان ئے روایت کړو. ابن اسحاق وئیلی دی چه ما ته عبدالرّحمٰن بن بشر حدیث بیان کړو. هغۀ اووے چه مونږ ته سفیان دا حدیث پوره په پوره بیان کړو.

عَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ ح و حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ

د یزید بن هرمز نه روایت دے وائی چه نجده بن عامر ابن

حَاتِمٍ وَاللَّفْظُ لَهُ قَالَ حَدَّثَنَا بَهْزٌ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ حَدَّثَنِي قَيْسُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ قَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ بْنُ عَامِرٍ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فَشَهِدْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ حِينَ قَرَأَ كِتَابَهُ وَحِينَ كَتَبَ جَوَابَهُ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَاللَّهِ لَوْلَا أَنْ أَرُدَّهُ عَنْ نَتْنٍ يَقَعُ فِيهِ مَا كَتَبْتُ إِلَيْهِ وَلَا نُعْمَةَ عَيْنٍ قَالَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ إِنَّكَ سَأَلْتَ عَنْ سَهْمِ ذِي الْقُرْبَى الَّذِي ذَكَرَ اللَّهُ مَنْ هُمْ وَإِنَّا كُنَّا نَرَى أَنَّ قَرَابَةَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ هُمْ نَحْنُ فَأَبَى ذَلِكَ عَلَيْنَا قَوْمُنَا وَسَأَلْتَ عَنِ الْيَتِيمِ مَتَى يَنْقَضِي يُتْمُهُ وَإِنَّهُ إِذَا بَلَغَ النِّكَاحَ وَأُونِسَ مِنْهُ رُشْدٌ وَدُفِعَ إِلَيْهِ مَالُهُ فَقَدِ انْقَضَى يُتْمُهُ وَسَأَلْتَ هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَقْتُلُ مِنْ صِبْيَانِ الْمُشْرِكِينَ أَحَدًا فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ لَمْ يَكُنْ يَقْتُلُ مِنْهُمْ أَحَدًا وَأَنْتَ فَلَا تَقْتُلْ مِنْهُمْ أَحَدًا إِلَّا أَنْ تَكُونَ تَعْلَمُ مِنْهُمْ مَا عَلِمَ الْخَضِرُ مِنَ الْغُلَامِ حِينَ قَتَلَهُ وَسَأَلْتَ عَنِ الْمَرْأَةِ وَالْعَبْدِ هَلْ كَانَ لَهُمَا سَهْمٌ مَعْلُومٌ إِذَا حَضَرُوا الْبَأْسَ فَإِنَّهُمْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ سَهْمٌ مَعْلُومٌ إِلَّا أَنْ يُحْذَيَا مِنْ غَنَائِمِ الْقَوْمِ

عباس﷛ ته اوليكل زۀ د ابن عباس﷛ سره موجود وم څۀ وخت چه هغوی د نجده خط لوستلو او څۀ وخت چه ئې د هغې جواب ليكلو. ابن عباس﷛ اووے قسم په خدائے كچرے خما دا خيال نه وے چه دے به په پليتئ كښ اوغورځيږی (يعنی د حماقت په خبره به عمل اوكړی) نو ما به دۀ ته جواب نه وو ليكلے او خدائے دِ ددۀ سترګے چرته يخے نۀكړی (يعنی ددۀ دِ خوشحالی نصيب نه شی) بيائے دا اوليكل تا خماته تپوس اوكړو د ذوالقربیٰ د حصے چه د هغے ذكر الله تعالیٰ كړے دے هغه څوك دی. نو مونږ دا خيال كوو چه د رسول الله ﷺ قرابت والا زمونږ خلق دی. ليكن زمونږ قوم ئې نۀمنی. او تا تپوس كړے دے چه د يتيم يتيمی كله ختميږی؟ نو هر كله چه هغه د نكاح قابل شی او عقل ورله راشی او د هغۀ مال هغۀ ته اوسپارلے شی. د هغۀ يتيمی ختمه شوه. او تا تپوس كړے دے چه رسول الله ﷺ به د مشركانو بچو لره وژل؟ نو رسول الله ﷺ د مشركانو يو بچے هم نۀ دے وژلے او تۀ ئې هم مۀ وژنه. البته كچرے تا ته دومره علم وی لكه چه حضرت خضر﵇ ته وو هر كله چه هغوی هلك وژلے وو نو هغه خبر وو (په مستقبل ئې) دے او تا تپوس كړے دے چه د ښځے او غلام به څۀ حصه مقرر وی كچرے هغوی په جنګ كښ شريك شی؟ نو هغوی ته څۀ حصه هم نۀ ميلاويده مګر د انعام په طور باندے د مال غنيمت نه.

عَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ قَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ إِلَى

د يزيد بن هرمز نه روايت دے هغوی وئيلی دی چه نجده ابن عباس﷛

ابن عبَّاسٍ فذكر بعض الحديث ولم يتمّ القصّة كإتمام من ذكرنا حديثهم

ته اوليکل. نو د حديث څۀ حصه ئے ذکر کړه او پوره قصه ئے بيان نۀ کړه. څنګه چه نورو ذکر کړے ده په حديثونو کښ.

باب عدد غزوات النّبي صلّى الله عليه وسلّم

باب : رسول الله صلّى الله عليه وسلّم څومره جهادونه کړي دي

عن أمّ عطيّة الأنصاريّة قالت غزوت مع رسول الله صلّى الله عليه وسلّم سبع غزوات أخلفهم في رحالهم فأصنع لهم الطّعام وأداوي الجرحى وأقوم على المرضى

د ام عطيةؓ نه روايت دے چه هغوی وائی زۀ د رسول اللهﷺ سره په اووۀ غزاګانو کښ پاتے شوے يم. زۀ به د سړو د اوسيدو په ځائے کښ وم. هغوی له به مے غله پخوله. او د زخميانو دوائی به مے کوله او د بيمارانو خدمت به مے کولو.

عن هشام بن حسّان بهذا الإسناد نحوه

د هشام بن حسان نه په دے اسناد سره د پورتنی حديث پشان روايت دے.

عن أبي إسحٰق أنّ عبد الله بن يزيد خرج يستسقي بالنّاس فصلّى ركعتين ثمّ استسقى قال فلقيت يومئذٍ زيد بن أرقم وقال ليس بيني وبينه غير رجلٍ أو بيني وبينه رجلٌ قال فقلت له كم غزا رسول الله صلّى الله عليه وسلّم قال تسع عشرة فقلت كم غزوت أنت معه قال سبع عشرة غزوة قال فقلت فما أوّل غزوةٍ غزاها قال ذات العسير أو العشير

د ابواسحٰق نه روايت دے چه عبد الله بن يزيد د استسقاء د مانځۀ دپاره راووتو نو د خلقو سره ئے دوه رکعته مونځ اوکړو او بيائے د اوبو دپاره دُعا اوغوښته په دغه ورځ زۀ د زيد بن ارقم سره ميلاؤ شوم. ځما او د هغوی په مينځ کښ صرف يو سړے وو. ما تپوس اوکړو د هغۀ نه چه رسول اللهﷺ څومره جهادونه کړي دي. هغوی اووے نولس. ما بيا تپوس اوکړو تۀ په څومره جهادونو کښ د هغویؐ سره شريك وے. هغوی اووے په اولسو کښ. ما تپوس اوکړو. رومبے جهاد کوم يو وو؟ هغوی اووے ذات العسير يا ذات العشير (چه دا د يو ځائے نوم دے. په سيرة ابن هشام کښ دے ته غزوة العشيره ليکلے دے په دے کښ جنګ نۀ وو شوے. رسول اللهﷺ د عشيره پورے لاړو او مدينے ته واپس راغے. دا واقعه په [illegible] کښ شوے وه. ابن هشام وائی چه د تولو نه مخکښ غزوه دوان اشوه مدينے ته د راتلو نه پس د کال په آخر باندے په دے کښ هم جنګ اونۀ شو.

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ سَمِعَهُ مِنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ غَزَا تِسْعَ عَشْرَةَ غَزْوَةً وَحَجَّ بَعْدَ مَا هَاجَرَ حَجَّةً لَمْ يَحُجَّ غَيْرَهَا حَجَّةَ الْوَدَاعِ

د زید بن ارقم نه روایت دے چه رسول الله ﷺ نولس جهادونه کړی دی. او د هجرت نه پس ئے صرف یو حج کړے دے چه هغے ته حجة الوداع وئیلے شی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعَ عَشْرَةَ غَزْوَةً قَالَ جَابِرٌ لَمْ أَشْهَدْ بَدْرًا وَلَا أُحُدًا مَنَعَنِي أَبِي فَلَمَّا قُتِلَ عَبْدُ اللهِ يَوْمَ أُحُدٍ لَمْ أَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي غَزْوَةٍ قَطُّ

د حضرت جابر بن عبد الله نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله سره نولس جهادونه کړی دی. او زۀ په بدر او اُحد کښې شریك نۀ وم. خما پلار به زۀ نۀ پریخودم. بیا چه هر کله خما پلار اووژلےشو د اُحد په ورځ نو ما په یو جنګ کښې هم د رسول الله ﷺ ملګرتیا نۀ ده پریخودے.

عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ غَزَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعَ عَشْرَةَ غَزْوَةً قَاتَلَ فِي ثَمَانٍ مِنْهُنَّ وَلَمْ يَقُلْ أَبُو بَكْرٍ مِنْهُنَّ وَقَالَ فِي حَدِيثِهِ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ بُرَيْدَةَ

د بریدهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ نولس جهادونه کړی دی . او په هغے کښې په اتو کښې جنګیدلے دے. ابوبکر راوی د مِنْهُنَّ لفظ نۀ دے وئیلے. او په خپل حدیث کښې داسے وئیلی دی. حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ بُرَيْدَةَ [1].

عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ سِتَّ عَشْرَةَ غَزْوَةً

د بریده نه روایت دے چه هغوی د رسول الله ﷺ سره شپاړس جهادونه کړی دی.

عَنْ سَلَمَةَ يَقُولُ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَخَرَجْتُ فِيمَا يَبْعَثُ مِنَ الْبُعُوثِ تِسْعَ غَزَوَاتٍ مَرَّةً عَلَيْنَا أَبُو بَكْرٍ وَمَرَّةً عَلَيْنَا

د سلمهؓ نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ سره اووۀ جهادونه کړی دی. او کوم لښکر چه به حضرت ﷺ لیږلو په هغے کښې نهه ځله وتلے یم یو ځل خو زمونږ سردار ابوبکرؓ وو او په دویم ځل اُسامه بن زیدؓ وو.

---

[1] امام نوویؒ وئیلی دی اهل مغازی اختلاف کړےدے د رسول الله ﷺ د جهادونو په شمار کښې. نو ابن سعد د هغے شمار مفصلًا په ترتیب ذکر کړے دے او د هغے تعداد د اویشتو غزاګانو او شپږ پنځوس سریو پورے رسیدلے دے (سریه هغه غزا ده چه هغے ته رسول الله ﷺ صحابه لیږلی وی او پخپله پکښې حاضر شوے نۀ وی) د دغه غزاګانو نه په نهو کښې جنګ شوے دے چه هغه بدر او اُحد او مریسیع او خندق او قریظه او خیبر او فتح او حنین او طائف دی. او بریده چه کوم اته بیان کړی دی نو کیدے شی غزوه فتح ئے ترے ویستلے وی ځکه چه د هغوی مذهب به د امام شافعی په شان وی چه هغه وائی مکه په صلح فتح شوے ده. او باقی علماء دا وائی چه مکه په زور د تورے فتح شوے ده. د اردو کتاب (مترجم وائی د باقی علماؤ قول صحیح دے او هم دغه د تاریخ نه ثابت دے)

أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ

عَنْ حَاتِمٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فِي كِلْتَيْهِمَا سَبْعَ غَزَوَاتٍ

د هاتم نه په دے اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے مګر په دے روایت کښې په دوارو ځایونو کښې د اووۀ عدد ذکر کړے شوے دے.

بَاب غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ

باب : د ذات الرّقاع د جهاد بیان

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ وَنَحْنُ سِتَّةُ نَفَرٍ بَيْنَنَا بَعِيرٌ نَعْتَقِبُهُ قَالَ فَنَقِبَتْ أَقْدَامُنَا فَنَقِبَتْ قَدَمَايَ وَسَقَطَتْ أَظْفَارِي فَكُنَّا نَلُفُّ عَلَى أَرْجُلِنَا الْخِرَقَ فَسُمِّيَتْ غَزْوَةَ ذَاتِ الرِّقَاعِ لِمَا كُنَّا نُعَصِّبُ عَلَى أَرْجُلِنَا مِنَ الْخِرَقِ قَالَ أَبُو بُرْدَةَ فَحَدَّثَ أَبُو مُوسَى بِهَذَا الْحَدِيثِ ثُمَّ كَرِهَ ذَلِكَ قَالَ كَأَنَّهُ كَرِهَ أَنْ يَكُونَ شَيْئًا مِنْ عَمَلِهِ أَفْشَاهُ قَالَ أَبُو أُسَامَةَ وَزَادَنِي غَيْرُ بُرَيْدٍ وَاللَّهُ يَجْزِي بِهِ

د ابو موسیٰ اشعری نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په یو جهاد کښې رااووتو. او زمونږ په شپږو سړو کښې یو اوښ وو. په نمبر نمبر به هغۀ ته ورختو آخر زمونږ خپے زخمی شوے او نوکونه ترے پریوتل. نو په هغه زخمونو باندے مو چړے اوترلے. ددے وجے نه د هغه جهاد نوم غزوه ذات الرّقاع شو. ځکه چه مونږ په خپلو خپو باندے رقاع یعنی چړے ترلے وے. ابوموسیٰ دے حدیث لره بیان کړو. بیائے بد اوګڼړل ددے بیانول. ځکه چه دوی ته د خپل عمل ظاهرول بد ښکاریده. ابو اسامه وائی د برید نه سوا نورو راویانو په دے حدیث کښې دومره نور زیات کړی دی چه الله تعالی به ددےبدله ورکوی (یعنی زمونږ د محنت او تکلیف)

بَاب كَرَاهَةِ الِاسْتِعَانَةِ فِي الْغَزْوِ بِكَافِرٍ إِلَّا لِحَاجَةٍ أَوْ كَوْنِهِ حَسَنَ الرَّأْيِ فِي الْمُسْلِمِينَ

باب : د کافر نه په جهاد کښې مدد اخستل منع دی. مګر په ضرورت سره یا هر کله چه هغه د مسلمانانو په باره کښې ښۀ رائے لری

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

د ام المؤمنین عائشے نه روایت دے هغوی وائی چه رسول الله ﷺ د بدر په طرف راسووتو هر کله چه حرّة الوبره ته اورسیدۀ (چه د

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ بَدْرٍ فَلَمَّا كَانَ بِحَرَّةِ الْوَبَرَةِ أَدْرَكَهُ رَجُلٌ قَدْ كَانَ يُذْكَرُ مِنْهُ جُرْأَةٌ وَنَجْدَةٌ فَفَرِحَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ رَأَوْهُ فَلَمَّا أَدْرَكَهُ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِئْتُ لِأَتَّبِعَكَ وَأُصِيبَ مَعَكَ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَرَسُولِهِ قَالَ لَا قَالَ فَارْجِعْ فَلَنْ أَسْتَعِينَ بِمُشْرِكٍ قَالَتْ ثُمَّ مَضَى حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالشَّجَرَةِ أَدْرَكَهُ الرَّجُلُ فَقَالَ لَهُ كَمَا قَالَ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا قَالَ أَوَّلَ مَرَّةٍ قَالَ فَارْجِعْ فَلَنْ أَسْتَعِينَ بِمُشْرِكٍ قَالَ ثُمَّ رَجَعَ فَأَدْرَكَهُ بِالْبَيْدَاءِ فَقَالَ لَهُ كَمَا قَالَ أَوَّلَ مَرَّةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَرَسُولِهِ قَالَ نَعَمْ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلِقْ

مدینې نه په څلور میله فاصله باندې دې) نو یو سړې میلاؤ شو د حضرت ﷺ سره چه د هغهٔ د بهادرئ او اصالت شور وو. د رسول الله ﷺ صحابؤ چه دې اولیدو نو ډیر خوشحاله شو. هر کله چه د حضرت ﷺ سره میلاؤ شو نو هغهٔ اووې زهٔ ددې دپاره راغلم چه ستاسو سره لاړ شم او څهٔ چه میلاؤ شی په هغې کښې حصه واخلم حضرت ﷺ اوفرمائیل ستا ایمان (یقین) دې په الله او د هغهٔ په رسول باندې. هغهٔ اووې نه حضرت ﷺ اوفرمائیل تهٔ واپس شه زهٔ د مشرك مدد نهٔ غواړمه بیا حضرت ﷺ روان شو هر کله چه شجره ته اورسیدهٔ نو هغه سړې بیا د حضرت ﷺ سره میلاؤ شو او هغهٔ ئې اووې څهٔ چه ئې مخکښې وئیلی وو. حضرت ﷺ ورته هغه اوفرمائیل څهٔ چه ئې ورته مخکښې فرمائیلی وو او ورته ئې اوفرمائیل چه واپس شه زهٔ د مشرك نه مدد نهٔ غواړمه. بیا هغه واپس شو او ددې نه پس بیاد حضرت ﷺ سره په بیداء کښې میلاؤ شو. حضرت ﷺ ورته هغه اوفرمائیل څهٔ چه ئې ورته مخکښې فرمائیلی وو چه تهٔ یقین لرې په الله او دهغهٔ په رسول باندې اوس هغه سړی اووې آو زهٔ لرم یقین. نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل پس تهٔ لاړ شه (زمونږ سره)[1].

[1] نووی وائی په بل حدیث کښې دی چه حضرت ﷺ د صفوان بن أموه نه مدد واخستو په جنګ کښې او هغه مسلمان شوې نهٔ وو. نو بعضې علماؤ مطلقًا د مشرك نه مدد اخستل منع کړی دی. او د شافعی دا قول دې چه کچرې ضرورت شی او کافر د مسلمانانو خیرخوا وی نو د هغهٔ نه مدد اخستل جائز دی ورنه مکروه دی په هغه صورت کښې هر کله چه کافر په جنګ کښې شریك وی. او هغهٔ ته به انعام میلاویږی او حصه به ورته نهٔ میلاویږی. د مالك او شافعی او ابوحنیفه او جمهور علماؤ دغه قول دې. او د زهری او اوزاعی په نیز به هغهٔ ته حصه میلاویږی.

كِتَابُ الْإِمَارَةِ

كتاب امارت (يعني د حكومت او سرداري) په بيان كښې

بَاب النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ وَالْخِلَافَةُ فِي قُرَيْشٍ

باب : خلق د قريشو تابع دى او خليفه د قريشو نه كيدل پكار دى

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَفِي حَدِيثِ زُهَيْرٍ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ ﷺ وَقَالَ عَمْرٌو رِوَايَةً النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي هَذَا الشَّأْنِ مُسْلِمُهُمْ لِمُسْلِمِهِمْ وَكَافِرُهُمْ لِكَافِرِهِمْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. خلق تابعدار دي د قريشو په سرداري كښې مسلمانان د قريشو د مسلمانانو تابعدار دي او كافران د قريشو د كافرانو تابعدار دي.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي هَذَا الشَّأْنِ مُسْلِمُهُمْ تَبَعٌ لِمُسْلِمِهِمْ وَكَافِرُهُمْ تَبَعٌ لِكَافِرِهِمْ

د همام بن منبه نه روايت دے وائى چه دا هغه حديثونه دي چه ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كړي دي په هغے كښې يو دا هم وو چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. خلق تابع دي د قريشو په خلافت كښې مسلمانان د هغوى تابعدار دي د قريشو د مسلمانانو او كافران تابعدار دي د قريشو د كافرانو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. خلق تابعدار دي د قريشو په خير او شر كښې.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ هَذَا الْأَمْرُ فِي قُرَيْشٍ مَا بَقِيَ مِنَ النَّاسِ اثْنَانِ

د عبد الله رضي الله عنه نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. دا كار يعني خلافت به هميشه په قريشو كښې وي تر څو پورے چه د خلقو نه په دنيا كښې دوه سړي وي[1].

[1] نووي رحمه الله وائى دد ے احاديثو نه دا رااووته چه خلافت خاص دے د قريشو سره. او څوك چه قريشي نۀ وي د هغۀ خلافت صحيح نۀ دے او په دے باندے اجماع شوے دہ د صحابۀ په زمانه كښې او دغه شان روستو د هغوى نه او څوك چه په دے كښې مخالفت كوى كۀ بدعت وى يا بل څوك په هغۀ باندے حجت تمام شو د احاديث صحيحۀ نه قاضي عياض رحمه الله وئيلي دي چه دپاره د خلافت قريشي كيدل شرط دے او دغه مذهب دے د علمائے كرامو او ابوبكر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه د سقيفه په ورځ په انصارو باندے دغه حديث

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَؓ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَبِي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ إِنَّ هٰذَا الْأَمْرَ لَا يَنْقَضِي حَتَّى يَمْضِيَ فِيهِمُ اثْنَا عَشَرَ خَلِيفَةً قَالَ ثُمَّ تَكَلَّمَ بِكَلَامٍ

د جابر بن سمرهؓ نه روایت دے وائی چه زۀ د خپل پلار سره د رسول اللهﷺ خواله لاړم. ما واوریدل چه حضرتﷺ فرمائیل دا خلافت به ختم نۀ شی تر هغې پورے چه په مسلمانانو کښې دولس خلیفه جوړ نۀ شی. بیا حضرتﷺ غلی غوندے څۀ اوفرمائیل پس ما د خپل

پیش کړو او دے نه هیڅ انکار او نۀ کړو. او دا د هغه مسائلو نه دے چه په هغې باندے علماؤ اجماع کړے ده. او د چا سلفو نه څۀ قول یا فعل د هغې خلاف منقول نه دے نۀروستو د بل چا عالم نه. او نظام او څو خوارجو دا وئیلی دی چه د غیر قریشی خلافت جائز دے او ضرار بن عمرو وئیلی دی چه غیر قریشی به مقدم کوی په قریشی باندے ددے دپاره چه د هغۀ کوزول د ضرورت په وخت آسان وی. خو دا دواړه قولونه لغوه او باطل دی. او د اجماع مخالف دی. او دا چه نے کوم اوفرمائیل چه خلق تابع دی د قریشو په خیر او شر کښې نو د خیر نه مراد اسلام دے او د شر نه مراد جاهلیت دے. په دے وجه چه د جاهلیت په زمانه کښې هم قریش د عربو رئیس او محافظ وو د د الله د حرم او حج به ئے کولو. او د عربو نورے قبیلے د هغوی د اسلام منتظر وو. هر کله چه هغوی اسلام راوړو او مکه فتح شوه نو دغه وخت ټولګی ټولګی د هرے قبیلے عرب مسلمانیدل شروع شو. دغه شان قریش په اسلام کښې د خلافت خاوندان دی او خلق د هغوی تابعدار دی. او حضرتﷺ فرمائیلی دی چه د قیامته پورے به دغه شان وی. تر دے پورے چه دوه سری پاتے شی. او دا خبره ربښتیا شوه ځکه چه د رسول اللهﷺ د زمانے نه تراوسه پورے خلافت په قریشو کښې دے. او څوک د هغوی مزاحم نشته او هم په دوی کښې به وی. د کومے پورے چه دوه سری هم پاتے شی. قاضی عیاضؒ وئیلی دی شافعیۀ ددے حدیث نه د امام شافعیؒ په فضیلت باندے استدلال کړے دے. حالانکه ددے نه فضیلت نۀ دے وتلے. ځکه چه ددے حدیث نه د قریشو تقدیم صرف د خلافت دپاره معلومیږی. زۀ وایم چه ددے نه د قریشو فضیلت په نورو قومونو باندے ثابتیږی او امام شافعیؒ قریش دے او د هغوی فضیلت ثابت شو په نورو امامانو باندے چه قریشی نۀ دی. انتهی ما قال النوویؒ. د اردو کتاب مترجم وائی چه ددے حدیث نه دا هم رااووتله چه د خلافت ثابتیدو دپاره د ټولو خلقو مسلمانانو بیعت ضروری نۀ دے. بلکه څۀ قدرے مسلمانان چه بیعت اوکړی پوره ده. په دے شرط چه د چا چه بیعت کولے شی هغه قریشی وی. دا خلافت د قریشو په معتصم بالله ختم شو. روستو ددے نه څو کاله په فاطمین مصر کښې پاتے شو. بیا د هغوی هم زمانه ختمه شوه او سلطنت او حکومت غیر قریشو ته لاړو. اوس په روم کښې چه کوم بادشاه دے هغه تُرک دے. په ایران کښې چه کوم دے هغه قاچار دے. په هند کښې مغل وو. اوس خو نصرٰی دی. غرض دا چه اوس خو چرته د قریشو حکومت په طور د وسعت او استقلال نۀ معلومیږی په مکه معظمه کښې چه چا ته شریف وئیلے شی هغه سید او قریشی دی لیکن هغوی ته څۀ اختیار نشته دے. هغوی د سلطان د فرمان تابعدار دی. په حدیث کښې چه کوم راغلی دی چه همیشه به خلافت په قریشو کښې وی دا صحیح دے ځکه چه دغه بادشاهان چه قریشی نۀ دی خلافت شرعی نۀ دی البته حاکم اسلام دی. او په منطوق د أَطِيعُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ او عَلَيْكُمْ بِالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا ظِلُّ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ وغیره. ددوی فرمانبرداری په دے شرط چه د شریعت خلاف نۀ وی واجب ده دغه شان هغه قریشی چه دهغۀ نه څو مسلمانانو بیعت کړے وی اګر کۀ د هغۀ جماعت لږ وی خلیفه کیدے شی. او د هغۀ هم اطاعت واجب دے. او د هغۀ په ملګرتیا کښې د کفارو سره جهاد صحیح دے. او داسے خلافت په اقطاع عرب او اطراف هند وغیره کښې کیدے شی تراوسه پورے موجود وی. او چرته چه نۀ وی د هغه ځائے مسلمانان هر وخت داسے سړی لره چه هغه قرشی وی خلیفه جوړولے شی.

خَفِيَ عَلَيَّ قَالَ فَقُلْتُ لِأَبِي مَا قَالَ قَالَ كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ

پلار نه تپوس اوکړو چه حضرت ﷺ څۀ اوفرمائيل هغۀ اووے حضرت ﷺ اوفرمائيل چه دا ټول خليفه ګان به د قريشو نه وی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ ؓ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَزَالُ أَمْرُ النَّاسِ مَاضِيًا مَا وَلِيَهُمْ اثْنَا عَشَرَ رَجُلًا ثُمَّ تَكَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَلِمَةٍ خَفِيَتْ عَلَيَّ فَسَأَلْتُ أَبِي مَاذَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ

د جابر بن سمرة ؓ نه روايت دے وائی چه ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلی ئے وو. هميشه به د خلقو کار روان وی تردے پورے چه د هغوی حکومت کوی دولس سړی بيا حضرت ﷺ روغوندے يوه خبره اوکړه چه هغه ما وانۀ اوريده. نو ما د خپل پلار نه تپوس اوکړو چه څۀ اووے رسول الله ﷺ . هغوی اووے حضرت اوفرمائيل دا ټول سړی به د قريشو نه وی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ ؓ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ وَلَمْ يَذْكُرْ لَا يَزَالُ أَمْرُ النَّاسِ مَاضِيًا

جابر بن سمرة ؓ د نبی کريم ﷺ نه دا حديث روايت کړے دے. مګر په دے کښ دا ذکر نشته چه د خلقو معامله به چليږی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَزَالُ الْإِسْلَامُ عَزِيزًا إِلَى ال اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيفَةً ثُمَّ قَالَ كَلِمَةً لَمْ أَفْهَمْهَا فَقُلْتُ لِأَبِي مَا قَالَ فَقَالَ كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ

د جابر بن سمرة ؓ نه روايت دے وائی چه ما اوريدلی دی چه هغوی فرمائيل. هميشه به اسلام غالب وی د دولسو خليفه ګانو د خلافته پورے. بيا حضرت ﷺ يوه خبره اوفرمائيله چه په هغے زۀ پوهه نۀ شوم. ما د خپل پلار نه تپوس اوکړو. څۀ ئے اوفرمائيل. هغوی اووے ټول به د قريشو نه وی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ ؓ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ هَذَا الْأَمْرُ عَزِيزًا إِلَى ال اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيفَةً قَالَ ثُمَّ تَكَلَّمَ بِشَيْءٍ لَمْ أَفْهَمْهُ فَقُلْتُ لِأَبِي مَا قَالَ فَقَالَ كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ

د جابر بن سمرة ؓ نه روايت دے چه اوفرمائيل رسول الله ﷺ چه دا کار به صحيح او غالب وی د دولسو خليفګانو پورے بيا حضرت ﷺ څۀ اوفرمائيل چه زۀ ورپاندے پوهه نۀ شوم نو ما د خپل پلار نه تپوس اوکړو چه حضرت ﷺ څۀ اوفرمائيل. نو هغوی اووے چه حضرت ﷺ اوفرمائيل چه دا ټول به د قريشو نه وی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ ؓ قَالَ انْطَلَقْتُ إِلَى ال رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن سمرة ؓ نه روايت دے زۀ د جناب رسول خدا ﷺ خواله لاړمه او څما سره څما پلار هم وو. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه دا دين به

وَمَعِي أَبِي فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ لَا يَزَالُ هٰذَا الدِّينُ عَزِيزًا مَنِيعًا إِلَى اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيفَةً فَقَالَ كَلِمَةً صَمَّنِيهَا النَّاسُ فَقُلْتُ لِأَبِي مَا قَالَ قَالَ كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ كَتَبْتُ إِلَى جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ مَعَ غُلَامِي نَافِعٍ أَنْ أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَكَتَبَ إِلَيَّ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ جُمُعَةٍ عَشِيَّةَ رُجِمَ الْأَسْلَمِيُّ يَقُولُ لَا يَزَالُ الدِّينُ قَائِمًا حَتّٰى تَقُومَ السَّاعَةُ أَوْ يَكُونَ عَلَيْكُمُ اثْنَا عَشَرَ خَلِيفَةً كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ عُصَيْبَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَفْتَتِحُونَ الْبَيْتَ الْأَبْيَضَ بَيْتَ كِسْرٰى أَوْ آلِ كِسْرٰى وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ كَذَّابِينَ فَاحْذَرُوهُمْ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ إِذَا أَعْطَى

همیشه غالب او مضبوط وی د دولسو خلیفه گانو د خلافته پورے. بیا حضرت ﷺ څۀ ارشاد اوفرمائیل چه هغه خلقو په ما وانۀ اوریدو (یعنی د هغوی د خبرو زۀ اوریدو ته پرے نۀ خودم کونړ نے کړم د هغے د اوریدو نه) ما د خپل پلار نه تپوس اوکړو حضرت ﷺ څۀ اوفرمائیل؟ هغوی اووے حضرت ﷺ اوفرمائیل ټول به د قریشو نه وی[1].

د عامر بن سعد بن ابی وقاص ؓ نه روایت دے وائی چه ما جابر بن سمرة ؓ ته اولیکل او د نافع غلام په لاس مے اولیکل چه ما ته بیان کړئ څۀ چه تاسو اوریدلی وی د رسول الله ﷺ نه. هغوی په جواب کښې اولیکل ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. د جمعے په ورځ مابنام په کومه ورځ چه ماعز اسلمی سنگسار کړے شو (او د هغی قصه په کتاب الحدود کښې تیره شوے ده) دا دین به همیشه قائم وی ترد ے پورې چه قیامت به قائم شی یا به تاسو باندے دولس خلیفه گان وی او هغه ټول به قریشی وی (کیدے شی دا واقعه هم قیامت ته نږدے وی چه دولس خلیفه گان به دولسو تکړو باندے د مسلمانانو وی په یو وخت کښې) اوریدلی دی ما چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه یو وړوکے شان جماعت د مسلمانانو به د کسری سپین محل فتح کړی (دا معجزه وه د حضرت ﷺ چه هم دغسے اوشوه د حضرت عمر ؓ په زمانه کښې) او ما اوریدلی دی حضرت ﷺ اوفرمائیل چه قیامت ته نږدے به دروغژن پیدا شی د هغوی نه خان اوساتئ او ما اوریدلی دی

---

[1] قاضی عیاض ؒ وائی دلته دوه اشکاله دی. یو خو دا چه په بل حدیث کښې راغلی دی چه خلافت به خمانه پس د دیرشو کالو پورے دے او په دیرشو کالو کښې خو صرف پنځۀ خلیفه گان شوی دی د امام حسن سره د هغے جواب دادے چه په دے حدیث کښې خلافت نبوت مراد دے او د دولسو خلیفه گانو نه خلافتِ عام مراد دے. دویم دا چه د دولسو خلیفه گانو نه زیات تیر شوی دی. د دے جواب دادے چه په دے حدیث کښې د دولسو حصر نشته دے چه سوا د دوی نه به نور خلیفه گان نۀ وی. بلکه دا ده چه دولس خلیفه گان به وی نو زیاتیدل ئے څۀ خلاف نۀ دی (نووی)

اللهُ أَحَدَكُمْ خَيْرًا فَلْيَبْدَأْ بِنَفْسِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ أَنَا الْفَرَطُ عَلَى الْحَوْضِ

حضرت ﷺ اوفرمائیل هر کله چه په تاسو کښې الله تعالی چا ته دولت ورکړی نو مخکښې به ئې په خپل ځان او په خپل کور والاؤ باندے خرچ کوی (هغوی به په آرام سره ساتی بیا به فقیرانو ته ورکوی) او ما واوریدل چه حضرت ﷺ فرمائیل. زهٔ به تاسو ته په کوثر باندے ولاړ یم (یعنی ستاسو د اوبو ښنبلو دپاره به هلته بندوبست کوم او ستاسو د راتلو به منتظر یم)

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّهُ أَرْسَلَ إِلَى ال ابْنِ سَمُرَةَ الْعَدَوِيِّ حَدِّثْنَا مَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ حَاتِمٍ

د عامر بن سعد ؓ نه روایت دے چه هغوی د سمره عدوی ځوئ ته پیغام اولیږهٔ چه تاسو ما ته هغه حدیث بیان کړئ کوم چه تاسو د رسول الله ﷺ نه اوریدلے وی نو هغوی اووے. اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه مخکښې د حاتم راوی د حدیث پشان حدیث ئې بیان کړو (کوم چه پورته تیر شو)

بَابُ الِاسْتِخْلَافِ وَتَرْكِهِ

باب: خلیفه جوړول او نهٔ جوړول

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ حَضَرْتُ أَبِي حِينَ أُصِيبَ فَأَثْنَوْا عَلَيْهِ وَقَالُوا جَزَاكَ اللهُ خَيْرًا فَقَالَ رَاغِبٌ وَرَاهِبٌ قَالُوا اسْتَخْلِفْ فَقَالَ أَتَحَمَّلُ أَمْرَكُمْ حَيًّا وَمَيِّتًا لَوَدِدْتُ أَنَّ حَظِّي مِنْهَا الْكَفَافُ لَا عَلَيَّ وَلَا لِي فَإِنْ أَسْتَخْلِفْ فَقَدِ اسْتَخْلَفَ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّي يَعْنِي أَبَا بَكْرٍ وَإِنْ أَتْرُكْكُمْ فَقَدْ تَرَكَكُمْ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَبْدُ اللهِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ حِينَ ذَكَرَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبدالله بن عمر ؓ نه روایت دے وائی چه ځما پلار (عمر بن الخطاب ؓ) هر کله چه زخمی شو نو زهٔ د هغهٔ په خواه کښې موجود وم. خلقو د هغوی تعریف اوکړو. او اوئې وئیل الله تعالی دِ تاسو ته نیکه بدله درکړی. هغوی اووے خلق په دوه قسمه دی ځنې خو زمانه د څهٔ حاصلولو أمیدوار دی او ځنې یریږی ځمانه. یا زهٔ أمید واریم د الله تعالی د رحمت او یریږم د هغهٔ د عذاب نه خلقو اووے تاسو خلیفه کړئ چا لره. هغوی اووے زهٔ ستاسو کار کوم په ژوند کښې هم او د مرګ نه پس هم زهٔ غواړم چه د خلافت نه د دومره ما ته میلاؤ شی چه نه ما لره څهٔ وبال وی او نه ما لره څهٔ ثواب وی (یعنی حکومت او خلافت داسے خوفناك څیز دے چه دد ے نه انسان صفا لاړ شی او څهٔ وبال په خپل سر باندے یو نهٔ سی نو هم ډیره ده (اجر او ثواب خو زیات مشکل دے هر کله چه حضرت

غَيْرُ مُسْتَخْلِفٍ

عمرؓ ته سره د دومره عدل او انصاف او د شرع د اتباع دومره یره وه، نو د نورو حاکمانو به څنګحال وی، او کچرے زهٔ خلیفه کړم چا لره او لاړ شم نو هم کیدے شی. څکه چه خلیفه کړے وو ماله هغه چا چه خما نه غوره وو (یعنی حضرت ابوبکر صدیقؓ) او کهٔ زهٔ چا لره خلیفه نهٔ کړم او لاړ شم نو هم کیدے شی. څکه چه خلیفه نهٔ وو جوړ کړے چا لره هغه چا چه خما نه غوره وو یعنی رسول الله ﷺ. عبد الله بن عمرؓ وائی هر کله چه هغوی د رسول الله ﷺ ذکر اوکړو نو خما یقین راغے چه هغوی چا لره نهٔ خلیفه کوی[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقَالَتْ أَعَلِمْتَ أَنَّ أَبَاكَ غَيْرُ مُسْتَخْلِفٍ قَالَ قُلْتُ مَا كَانَ لِيَفْعَلَ قَالَتْ إِنَّهُ فَاعِلٌ قَالَ فَحَلَفْتُ أَنِّي أُكَلِّمُهُ فِي ذٰلِكَ فَسَكَتُّ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه زهٔ د ام المؤمنین حفصےؓ خواله لاړم. هغوی اووے. اے تا ته معلومه ده چه ستا پلار هیڅا لره نهٔ خلیفه کوی. ما اووے داسے نهٔ شی کولے. هغوی اووے هغه به داسے کوی. ما قسم اوخوړو چه زهٔ به هغوی ته ددے خبرے ذکر اوکړم بیا

---

[1] نوویؒ وائی مسلمانانو اجماع کړے ده چه د خلیفه چه هر کله د وفات کیدو حالت شروع شی نو هغه له صحیح دی چه بل چا لره خلیفه کړی او کهٔ چا لره خلیفه نهٔ کړی نو هم صحیح دی بلکه د مسلمانانو په رائے باندے ئے پریږدی لکه څنګه چه رسول الله ﷺ چا لره نهٔ وو خلیفه کړے. پس کچرے چا لره خلیفه کړی څوك نو د حضرت ابوبکرؓ تابعداری ئے اوکړه او کهٔ خلیفه نهٔ کړی نو د رسول الله ﷺ تابعداری ئے اوکړه. او اجماع ده چه په خلیفه مقررولو سره خلافت صحیح کیږی. او کوم خلق چه صاحب رائے وی د هغوی په اتفاق سره هم صحیح کیدے شی. او اجماع ده چه خلافت په یو تولی باندے پریخودل صحیح دی د مسلمانانو په مشوره باندے. لکه څنګه چه حضرت عمر د شپږو سړو په خلافت وصیت اوکړو. او اجماع ده چه په مسلمانانو باندے د یو خلیفه مقررول واجب دی. څکه خو صحابه کرامو دا کار د حضرت ﷺ په تکفین او تجهیز باندے مخکښ کړو. او ددے حدیث نه دا ثابته شوه چه رسول الله ﷺ صراحةً چا لره خلیفه کړے نهٔ دے او په دے باندے د اهل سنتو اجماع ده. قاضی عیاضؒ ونیلی دی په دے کښ صرف بکر بن اخت عبد الواحد خلاف کړے دے چه وائی رسول الله ﷺ نص کړے وو د ابوبکرؓ په خلافت باندے. او ابن راوندی وائی چه د عباس په خلافت باندے نص کړے وو. شیعه او رافضیه وائی چه د حضرت علیؓ د خلافت دپاره حضرت ﷺ نص کړے وو. او دا ټول دعاوی باطله وی. څکه کچرے داسے وے نو صحابؤ به د خلافت په باره کښ د حضرت خلاف نهٔ وو کړے. او د ابوبکرؓ خلافت به ئے نهٔ اختیاره وو. او بیا به ئے د هغوی په وینا سره حضرت عمرؓ نهٔ خلیفه کو. بیا د حضرت عمرؓ رائے چه په شپږو سړو کښ د یو دپاره وو په هغے به ئے عمل نهٔ کوو. او هیڅا هم په دغه موقعو کښ خلاف نهٔ دے کړے نهٔ حضرت علیؓ او عباسؓ او حضرت ابوبکر صدیقؓ د حضرت ﷺ د وصیت دعوه کړے ده. پس چه څوك دا دعوه کوی چه حضرت ﷺ په دوی کښ د یو دپاره د خلافت وصیت کړے وو. هغه تمام امت محمد لره د خطا په طرف منسوب کوی. او دا چا یو اهل قبلے لره جائز نهٔ دی. چه صحابؤ ته په باطله باندے د اتفاق کولو نسبت اوکړی. انتهی

حَتّٰى غَدَوْتُ وَلَمْ أُكَلِّمْهُ قَالَ فَكُنْتُ كَأَنَّمَا أَحْمِلُ بِيَمِينِي جَبَلًا حَتّٰى رَجَعْتُ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ فَسَأَلَنِي عَنْ حَالِ النَّاسِ وَأَنَا أُخْبِرُهُ قَالَ ثُمَّ قُلْتُ لَهُ إِنِّي سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ مَقَالَةً فَآلَيْتُ أَنْ أَقُولَهَا لَكَ زَعَمُوا أَنَّكَ غَيْرُ مُسْتَخْلِفٍ وَإِنَّهُ لَوْ كَانَ لَكَ رَاعِي إِبِلٍ أَوْ رَاعِي غَنَمٍ ثُمَّ جَاءَكَ وَتَرَكَهَا رَأَيْتَ أَنْ قَدْ ضَيَّعَ فَرِعَايَةُ النَّاسِ أَشَدُّ قَالَ فَوَافَقَهُ قَوْلِي فَوَضَعَ رَأْسَهُ سَاعَةً ثُمَّ رَفَعَهُ إِلَيَّ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَحْفَظُ دِينَهُ وَإِنِّي لَئِنْ لَا أَسْتَخْلِفُ فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسْتَخْلِفْ وَإِنْ أَسْتَخْلِفْ فَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ قَدِ اسْتَخْلَفَ قَالَ فَوَاللّٰهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ ذَكَرَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ فَعَلِمْتُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لِيَعْدِلَ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدًا وَأَنَّهُ غَيْرُ مُسْتَخْلِفٍ

بَابُ النَّهْيِ عَنْ طَلَبِ الْإِمَارَةِ وَالْحِرْصِ عَلَيْهَا

چپ پاتے شو. په دويمه ورځ سحر هم ما هغوى ته اونه وے ليكن خما حال داسے وو لكه چه چا غر په لاسو كښې اخستے وى (د قسم بوجهه وو) آخر زهٔ واپس شوم او د هغوى خواله لاړم هغوى خما نه د خلقو د حال تپوس اوكړو او ما ورته بيان كړو. بيا ما اووے چه ما د خلقو نه يوه خبره واوريده نو قسم مے اوخوړو چه تاته به ضرور د هغے ذكر كوم. هغوى وائى چه تاسو چا لره خليفه كوئ نه او كچرے ستاسو څوك د اوښانو يا د بزو څرونكے وى او هغه هغه اوښان يا بزے پريږدى او ستا خواله راشى نو تهٔ به دا اوګڼے چه هغه ځناور برباد كړل په دے صورت كښې د خلقو خيال ډير ضرورى دے. خما په دے وينا سره د هغوى خيال راغے او د يو وخته پورے هغوى سر خكته كړے وو (فكرئے كوو) بيائے سر اوچت كړو او اوئے وئيل چه الله جل شانه به د خپل دين حفاظت كوى او كچرے زهٔ خليفه مقرر نهٔ كړم نو رسول الله ﷺ هيچا لره خليفه كړے نهٔ وو او كچرے خليفه مقرر كړم نو حضرت ابوبكر صديق خليفه مقرر كړے دے. عبد الله بن عمرو وائى بيا قسم په خدائے هر كله چه هغوى د رسول الله ﷺ او د حضرت ابوبكر ذكر اوكړو نو زهٔ پوهه شوم چه هغه د رسول الله ﷺ برابر هيچا لره نهٔ كونكے او هغه خليفه نهٔ جوړونكے دے[1]

باب: د امارت درخواست او حرص كول منع دى

[1] يعنى د رسول الله ﷺ تابعدارى د ابوبكر صديق د پيروئ نه مقدم ده. اګر چه د ابوبكر فعل هم د شرع خلاف نهٔ وو خو د مؤمن دغه كار دے چه د رسول الله ﷺ عاشق به وى او هر كله چه د حضرت قول يا فعل په صحت سره اورسى بيا د هغے په خلاف كښې د بل يو صحابى يا امام مجتهد يا پير يا ولى يا بادشاه يا حاكم د قول او فعل څهٔ پرواه نهٔ كوى او د خپل پيغمبر ﷺ په طريقه باندے چليږى يا الله مونږه عاشقان او تابعدار كړه د خپل عزتمند حبيب رسول الله ﷺ آمين

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ الرَّحْمٰنِ لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ فَإِنَّكَ إِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ أُكِلْتَ إِلَيْهَا وَإِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا

د عبدا لرّحمٰن بن سمرهؓ نه روايت دے وائي چه ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائيل اے عبد الرّحمٰن ! د عهدے او حکومت درخواست مۀ کوه ولے چه کچرے په درخواست تاته ميلاؤ شی نو الله به تا لره پريږدی او کچرے بغير د سوال نه درته ميلاؤ شی نو الله تعالى به ستا مدد کوی.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيْثِ جَرِيْرٍ

عبد الرّحمٰن بن سمرهؓ د نبی کریم ﷺ نه (د پورتنے حديث) د جريرؓ د حديث په مثل روايت کړے دے.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَرَجُلَانِ مِنْ بَنِي عَمِّي فَقَالَ أَحَدُ الرَّجُلَيْنِ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَمِّرْنَا عَلَى بَعْضِ مَا وَلَّاكَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَقَالَ الْآخَرُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ إِنَّا وَاللهِ لَا نُوَلِّي عَلَى هٰذَا الْعَمَلِ أَحَدًا سَأَلَهُ وَلَا أَحَدًا حَرَصَ عَلَيْهِ

د ابوموسىٰؓ نه روايت دے وائي چه زۀ د رسول الله ﷺ خواله لاړم. او ځما سره دوه د ترۀ خامن وو. په هغوی کښې يو اووے يا رسول اللهؐ! مونږ ته حکومت راکړه د يو ملك د هغه ملکونو نه کوم چه الله تعالىٰ تاسو ته درکړی دی او هغه بل هم دغه شان اووے. پس حضرت ﷺ اوفرمائيل قسم په خدائے چه مونږ نۀ ورکوؤ خدمت هغه سړی ته چه د هغے حرص اوکړی.

عَنْ أَبِي مُوسَى أَقْبَلْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعِي رَجُلَانِ مِنَ الْأَشْعَرِيِّينَ أَحَدُهُمَا عَنْ يَمِينِي وَالْآخَرُ عَنْ يَسَارِي فَكِلَاهُمَا سَأَلَ الْعَمَلَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاكُ فَقَالَ مَا تَقُوْلُ يَا أَبَا مُوسَى أَوْ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ قَالَ فَقُلْتُ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أَطْلَعَانِي عَلَى مَا فِي أَنْفُسِهِمَا وَمَا شَعَرْتُ أَنَّهُمَا يَطْلُبَانِ الْعَمَلَ قَالَ وَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى سِوَاكِهِ تَحْتَ شَفَتِهِ وَقَدْ قَلَصَتْ فَقَالَ

د ابوموسىٰؓ نه روايت دے چه زۀ د رسول الله ﷺ خواله راغلمه او ځما سره دوه سړی وو. يو ښی طرفته او بل ګس طرفته دوارو حضرت ﷺ ته د کار درخواست اوکړو او حضرت ﷺ مسواك کولو. حضرت ﷺ اوفرمائيل اے ابوموسىٰ يا عبدالله بن قيسؓ (دا د ابوموسىٰ نوم دے) تاسو څۀ وايئ؟ ما اووے يا رسول اللهؐ قسم دے په هغه ذات چا چه تۀ په حقه سره پيغمبر راليګلے ئےچه دوی د خپل زړۀ خبره ما ته نۀ وه کړے. او ما ته معلومه نۀ وه چه دد ے کار (يعنې د خدمت د عهدے) درخواست به کوی. لکه چه زۀ حضرت ﷺ مسواك لره وينم چه هغه ئے د لاندے شونډے په خوا کښې او دروله وو. حضرت ﷺ اوفرمائيل مونږ هغوی ته کار چرے

لَنْ أَوْ لَا نَسْتَعْمِلُ عَلَى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ وَلَكِنِ اذْهَبْ أَنْتَ يَا أَبَا مُوسَى أَوْ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ فَبَعَثَهُ عَلَى الْيَمَنِ ثُمَّ أَتْبَعَهُ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ فَلَمَّا قَدِمَ عَلَيْهِ قَالَ انْزِلْ وَأَلْقَى لَهُ وِسَادَةً وَإِذَا رَجُلٌ عِنْدَهُ مُوثَقٌ قَالَ مَا هَذَا قَالَ هَذَا كَانَ يَهُودِيًّا فَأَسْلَمَ ثُمَّ رَاجَعَ دِينَهُ دِينَ السَّوْءِ فَتَهَوَّدَ قَالَ لَا أَجْلِسُ حَتَّى يُقْتَلَ قَضَاءُ اللهِ وَرَسُولِهِ فَقَالَ اجْلِسْ نَعَمْ قَالَ لَا أَجْلِسُ حَتَّى يُقْتَلَ قَضَاءُ اللهِ وَرَسُولِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَأَمَرَ بِهِ فَقُتِلَ ثُمَّ تَذَاكَرَا الْقِيَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ أَحَدُهُمَا مُعَاذٌ أَمَّا أَنَا فَأَنَامُ وَأَقُومُ وَأَرْجُو فِي نَوْمَتِي مَا أَرْجُو فِي قَوْمَتِي

هم نه ورکوو څوك چه د كار درخواست اوکړي. ليکن ته لاړ شه اے ابوموسیٰؓ یا عبدالله بن قیس بیائے هغوی لره د یمن د صوبے عامل جوړ کړو او اوئے لیږلو روستو د هغهٔ نه ئے معاذ ابن جبلؓ اولیږو (ددے دپاره چه هغه هم د ابوموسیٰؓ سره ملګرے وي) هر کله چه معاذ هلته اورسیدو نو حضرت ابوموسیٰؓ ورته اووے کوز شه. او یوه ګدئ ئے د هغهٔ دپاره خوره کړه. اتفاقاً هلته یو سړے په قید کښې بند کړے شوے وو. معاذؓ اووے دا څهٔ دي؟ ابوموسیٰؓ اووے دا یو یهودي وو مسلمان شوے وو او بیا کمبخت یهودي شو او خپل خراب دین ئے اختیار کړو. معاذ اووے زهٔ نهٔ کیبنم ترهغې پورے چه د اللهؐ او د هغهٔ د رسولؐ د حکم موافق دے قتل شوے نهٔ وي.بیا ابوموسیٰ حکم اوکړو او هغه قتل کړے شو. روستو ددے نه داوړو د شب بیدارئ ذکر اوکړو معاذؓ اووے زهٔ خو اوده کیږم هم او عبادت هم کوم د شپے. او څما اُمید دے چه په خوب سره به هم ماته هغه ثواب میلاویږي. کوم چه په عبادت سره میلاویږي[1]

---

[1] دا یوه داسے مزیداره قاعده ده. چه کچرے په دې باندے د زمانے حاکمان عمل اوکړي. نو د زرګونو خرابو نه به محفوظ پاتے شي. اکثر د کار او خدمت هغه خلق درخواست کوي چه هغوی ته د آخری انجام بالکل څهٔ پره نهٔ وي. او رشوتونه اخستل او د الله مخلوق تنګول د هغوی کار وي نو د داسے خلقو مناسب داده چه هغوی ته دے څهٔ کار نهٔ شي ورکیدے. نوويؒ وائي د مرتد په قتل باندے اجماع ده. لیکن اختلاف دے چه د هغهٔ نه توبه اخستل واجب دي یا مستحب دي د مالکؒ او شافعيؒ او احمدؒ په نز به پرې توبه کوي. او ابن قصار په دے باندے اجماع د صحابوٓ نقل کړے ده. او د طاؤسؒ او حسنؒ او ماجشون ملکيؒ او ابویوسفؒ او اهل ظاهرو په نز به پرے توبه نهٔ کوي او کچرے هغه توبه اوباسي نو په نز د الله به فائده وي خو په دنیا کښې به هغه د قتل نه نهٔ شي بچ کیدے او عطاءؒ وائي کچرے هغه مسلمان پیدا وي نو د هغهٔ نه به توبه نهٔ طلب کوي. او کافر کهٔ مسلمان شو او بیا مرتد شو نو توبه پرے اوباسي. د شافعيؒ او د هغهٔ د ملګرو په نز توبه کول واجب دي او فوراً توبه کول پکار دي او په یو روایت کښې به درے ورځې مهلت ورکوي. او دغه قول دے د مالکؒ او ابوحنیفهؒ او احمدؒ او اسحقؒ او د حضرت عليؓ نه د یوے میاشتے مهلت منقول دے. او کچرے ښځه هم مرتده شي نو د هغې هم حکم د جمهورو په نز په شان د سړي دے یعني هغه به هم قتلولے شي. او د کومې پورے چه ئے توبه کړے نهٔ وي هغې لره وینخه جوړول صحیح نهٔ دي او د ابوحنیفهؒ په نز به ښځه قید کولے شي او د حسنؒ او قتادهؒ په نز به هغې لره وینخه جوړولے شي. انتهی.

بَابُ كَرَاهَةِ الْإِمَارَةِ بِغَيْرِ ضَرُورَةٍ

عَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا تَسْتَعْمِلُنِي قَالَ فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى مَنْكِبِي ثُمَّ قَالَ يَا أَبَا ذَرٍ إِنَّكَ ضَعِيفٌ وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا

باب: بے ضرورته حاکم جوړیدل بنۀ نۀ دی

د ابوذرؓ نه روایت دے وائی چه ما عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ تاسو ما ته خدمت نۀ راکوئ حضرتﷺ په خپل لاس مبارك باندے خما اوږه اووهله او اوئے فرمائیل. اے ابوذره ته کمزورے ئے او دا امانت دے (یعنی د بندیګانو حقوق او د الله حقوق تول حاکم لره ادا کول وی) او د قیامت په ورځ د خدمت نه سوا د رسوایئ نه او شرمندګئ نه نور څۀ نۀ حاصلیږی. مګر څوك چه دد ے حق ادا کړی او د ربنتینولي نه کار واخلی[١]

عَنْ أَبِي ذَرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَبَا ذَرٍ إِنِّي أَرَاكَ ضَعِيفًا وَإِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي لَا تَأَمَّرَنَّ عَلَى اثْنَيْنِ وَلَا تَوَلَّيَنَّ مَالَ يَتِيمٍ

د ابوذرؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل اے ابوذر! زۀ تا لره کمزورے وینم. او زۀ ستا دپاره هغه څۀ غوره کوم کوم چه د خپل ځان دپاره غوره کوم. حکم مۀ کوه د دوو سړو په مینځ کښ. او مۀ بندوبست کوه د یتیم د مال (ځکه چه احتمال دے چه د یتیم مال به بے ځایه اولګی یا به ئے په خپل ضرورت کښ اولګوے او په مواخذه کښ به ئے ګرفتار شے)

بَابُ فَضِيلَةِ الْإِمَامِ الْعَادِلِ وَعُقُوبَةِ الْجَائِرِ وَالْحَثِّ عَلَى الرِّفْقِ بِالرَّعِيَّةِ وَالنَّهْيِ عَنْ إِدْخَالِ الْمَشَقَّةِ عَلَيْهِمْ

باب: د عادل حاکم غوره والے او د ظالم حاکم بدالے. او د رعیت سره د نرمئ کولو ترغیب او هغے لره په تکلیف او مشقت کښ د غورځولو ممانعت

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ وَأَبُو

د عبد الله بن عمروؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی.

---

[١] امام نوویؒ وئیلی دی دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه حتی المقدور د حکومت نه پرهیز کول پکار دی او د چا نه چه نۀ شی کیدے هغۀ له ئے قبلول نۀ دی پکار البته څوك چه ئے کولے شی او یقین ئے وی د انصاف او د عدل هغه د ئے قبول کړی بیا کچرے انصاف کوی او د تولو حق ادا کوی. نو د هغے ثواب هم لوے دے.

بَكْرٍ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي حَدِيثِ زُهَيْرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ عَزَّ وَجَلَّ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِمَاسَةَ قَالَ أَتَيْتُ عَائِشَةَ أَسْأَلُهَا عَنْ شَيْءٍ فَقَالَتْ مِمَّنْ أَنْتَ فَقُلْتُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ مِصْرَ فَقَالَتْ كَيْفَ كَانَ صَاحِبُكُمْ لَكُمْ فِي غَزَاتِكُمْ هَذِهِ فَقَالَ مَا نَقَمْنَا مِنْهُ شَيْئًا إِنْ كَانَ لَيَمُوتُ لِلرَّجُلِ مِنَّا الْبَعِيرُ فَيُعْطِيهِ الْبَعِيرَ وَالْعَبْدُ فَيُعْطِيهِ الْعَبْدَ وَيَحْتَاجُ إِلَى ال النَّفَقَةِ فَيُعْطِيهِ النَّفَقَةَ فَقَالَتْ أَمَا إِنَّهُ لَا يَمْنَعُنِي الَّذِي فَعَلَ فِي مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ أَخِي أَنْ أُخْبِرَكَ مَا

کوم خلق چه انصاف کوی هغه به د الله په خوا کښې بنی طرفته په منبرونو باندے وی. او د الله دواړه طرفونه ښې دی (یعنی په ګس لاس کښې د ښی نه طاقت کم وی دا خبره په الله تعالی کښې نشته ولے چه هغه د هر عیب نه پاک دے او دا انصاف کولو والا هغه خلق دی چه د حکم کولو په وخت انصاف کوی. او په خپل بال بچ او عزیزانو کښې انصاف کوی. او کوم کار چه هغوی ته ورکړے شی په هغے کښې انصاف کوی[1]

د عبدالرّحمٰن بن شماسه نه روایت دے وائی چه زهٔ د ام المؤمنین حضرت عائشےؓ خواله لاړم د څهٔ تپوسونو دپاره. هغوی تپوس اوکړو تهٔ د کومو خلقو نهٔ یے؟ ما اووے د مصر والاؤ نه هغوی اووے ستاسو د حاکم څهٔ حال وو په هغه جنګ (یعنی د محمد بن ابی بکر چه هغهٔ لره حضرت علی مرتضیٰؓ د مصر حاکم کړے وو او قیس بن سعد ئے معزول کړو) ما اووے. د هغوی خو څهٔ خبره مونږ بده نهٔ ده لیدلے په مونږ کښې چه د چا اوښ مړ شی هغهٔ له اوښ ورکوی او کهٔ غلام مړ شی نو غلام ورکوی او کهٔ د خرچ حاجت راشی نو خرچ ورکوی حضرت عائشے صدیقےؓ اووے. د محمد بن ابی بکرؓ د رور چه کوم حال اوشو (

---

[1] یعنی انصاف څهٔ په دے باندے منحصر نهٔ دے چه د بنده دِ چرته حاکم یا قاضی وی بلکه په خپلو بچو او بیبیانو او خاندان والاؤ کښې هم انصاف کول پکار دی او د هر یو حقوق د شریعت موافق ادا کول پکار دی. نووی وئیلی دی دا حدیث د صفاتو د احادیثو نه دے او ددے بیان پورته تیر شو او د علماؤ اختلاف په داسے حدیثونو کښې بیان شو خنو دا وئیلی دی چه مونږ په دغه صفاتو باندے ایمان راوړے دے او د هغے د تاویل دپاره خبرے نهٔ کوو. او ددے په معنی مونږه نهٔ پوهیږو لیکن مونږ دا اعتقاد لرو چه ددے دغه ظاهری معنی مراد نهٔ ده. بلکه ددے معنی داسے ده چه د الله جل جلاله د شان لائقه ده. او دغه مذهب دے د جمهور سلفو اوِد متکلمونو د یو تولی او دویم قول دادے چه د هغے تاویل دِ اوکړے شی او اکثر متکلمین په دے طرف دی او په دغه بنا باندے قاضی عیاض وئیلی دی چه مراد د هغه خلقو د ښی طرف کیدو نه په ښهٔ حالت او اوچتے درجے باندے وی او ابن عرفه وئیلی دی چه عرب خلق وائی هغه د ښی طرفنه راغے کله چه د ښهٔ طرفنه راشی او عرب ښهٔ کار او احسان لره ښی طرفته منسوب کوی. او بد لره ګس طرفته او یمین ما خوذ دے د یمن نه چه معنی ئے برکت او خوبی ده. او دا چه کوم حضرتﷺ اوفرمائیل چه دواړه لاسونه د الله ښې دی ددے نه مقصود تنبیهه ده په دے امر باندے چه د یمین نه مراد اندام نهٔ دے. ځکه چه هغه د الله تعالی په حق کښې محال دے انتهی ماقال النووی

سَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِي بَيْتِي هٰذَا اَللّٰهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهِ

چه اوئے وژلو او لاش ئے ورله په مردارو كښ اوغورځولو او بيانے اوسيزلو) دا ما د هغه امر د بيانولو نه نه شي منع كولے څۀ چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي څما په دے كوټكۍ كښ يا الله څوك چه څما د امت حاكم وي بيا هغه په هغوي باندے سختي كوي نو ته هم په هغوي باندے سختي اوكړه. او څوك چه څما د امت حاكم وي او هغه د هغوي سره نرمي كوي نو ته هم د هغوي سره نرمي اوكړه.

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

د حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه هغوي د نبي كريمﷺ نه د پورتني حديث پشان حديث بيان كړو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالْأَمِيرُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُوْلٌ عَنْهُمْ وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُوْلَةٌ عَنْهُمْ وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُوْلٌ عَنْهُ أَلَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے. رسول اللهﷺ اوفرمائيل. ستاسو نه هر سړے حاكم دے. او د هر يو نه به د هغۀ د رعيت تپوس كيږي. (د حاكم نه مراد منتظم او د كار نګران او محافظ دے) بيا څوك چه بادشاه دے هغه د خلقو حاكم دے او د هغۀ نه به د هغۀ د رعيت سوال كيږي (چه دۀ د خپل رعيت حق ادا كړے او د خپل خان او مال حفاظت ئے كړے دے يا نه) او سړے حاكم دے د خپل كور والاؤ د دۀ نه به سوال كيږي د هغوي. او ښځه حاكمه ده د خپل خاوند د كور او د بچو د دے نه به د هغوي سوال كيږي. او غلام د خپل مالك د مال حاكم دے د دۀ نه به د هغې سوال كيږي. غرض دا دے چه ستاسو نه هر يو سړے حاكم دے. او ستاسو نه به د هر يو نه سوال كيږي د هغۀ د رعيت[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ بِهٰذَا مِثْلَ حَدِيْثِ اللَّيْثِ عَنْ نَافِعٍ

د ابن عمرؓ نه په دے اسناد سره (د پورتني حديث په شان څنګه چه ليث د نافع نه روايت كړے دے، حديث مروي دے.

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ

سالم بن عبد اللهؓ د خپل پلار نه روايت كړے دے. هغوي وئيلي

[1] ترد دے پورے چه كوم سړے مجرد دے هغه حاكم دے د خپلو نوكرانو او غلامانو او د وينځو كچرے مالدار وي. او څوك چه غريب دے هغه حاكم دے د خپل نفس او خپلو اندامونو.

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِمَعْنَى حَدِيثِ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَزَادَ فِي حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ قَالَ وَحَسِبْتُ أَنَّهُ قَدْ قَالَ الرَّجُلُ رَاعٍ فِي مَالِ أَبِيهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

دی. اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ مخکښې حدیث داسې بیان کړو څنګه چه نافع د ابن عمرؓ نه روایت کړے دے. او په دے کښې دومره زیاته کړے ده چه ځما خیال دے چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی چه سړے د خپل پلار د مال حفاظت کونکے دے او د هغۀ نه به د هغے سوال کیږی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْمَعْنَى

عبد الله بن عمرؓ د نبی کریم ﷺ نه د دغے مضمون حدیث بیان کړو.

عَنِ الْحَسَنِ قَالَ عَادَ عُبَيْدُ اللهِ بْنُ زِيَادٍ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ الْمُزَنِيَّ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ فَقَالَ مَعْقِلٌ إِنِّي مُحَدِّثُكَ حَدِيثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ عَلِمْتُ أَنَّ لِي حَيَاةً مَا حَدَّثْتُكَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللهُ رَعِيَّةً يَمُوتُ يَوْمَ يَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهِ إِلَّا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ

د حسنؓ نه روایت دے وائی چه عبید الله بن زیاد د معقل بن یسارؓ تپوس له راغے په کومه بیماریٔ کښې چه هغه مړ شو. نو معقل اووے زۀ یو حدیث تا ته بیانوم چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے. او کچرے ما دا ګڼړلے چه اوس به زۀ ژوندے پاتے شم نو تا ته به مے نۀ وو بیان کړے. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. یو بنده داسے نشته چه هغۀ له الله تعالی رعیت ورکړی بیا هغه مړ شی او په هغه ورځ هغه مړ شی چه هغه خیانت کوی د خپل رعیت په حقوقو کښې. مګر الله تعالی به حرام کړی په هغۀ باندے جنت لره. (دا حدیث سره د فائده نه په کتاب الایمان کښې تیر شوے دے)

عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ أَنَّ عُبَيْدَ اللهِ بْنَ زِيَادٍ دَخَلَ عَلَى مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ فِي مَرَضِهِ فَقَالَ لَهُ مَعْقِلٌ إِنِّي مُحَدِّثُكَ بِحَدِيثٍ لَوْلَا أَنِّي فِي الْمَوْتِ لَمْ أُحَدِّثْكَ بِهِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ أَمِيرٍ يَلِي أَمْرَ الْمُسْلِمِينَ ثُمَّ لَا يَجْهَدُ لَهُمْ وَيَنْصَحُ إِلَّا لَمْ يَدْخُلْ مَعَهُمُ الْجَنَّةَ

د ابو الملیح نه روایت دے چه عبید الله بن زیاد د معقل بن یسار خواله لاړۀ د هغوی په بیماریٔ کښې. نو معقلؓ هغوی ته اووے چه تا ته یو حدیث بیانوم کچرے زۀ په مرض الموت کښې نۀ وم نو نۀ مے بیانوؤ. اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ هغوی فرمائیل چه کوم یو حاکم چه د مسلمانانو د کارونو والی جوړ شو او بیا هغه د هغوی خیر خواهی نۀ لټوی او نۀ د هغوی د کارونو په سرته رسیدو کے کوشش کوی نو هغه به جنت ته د دوی سره نۀ شی تلے.

عَنِ الْحَسَنِ قَالَ دَخَلَ ابْنُ زِيَادٍ عَلَى مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ وَهُوَ وَجِعٌ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي الْأَشْهَبِ وَزَادَ قَالَ أَلَا كُنْتَ حَدَّثْتَنِي هٰذَا قَبْلَ الْيَوْمِ قَالَ مَا حَدَّثْتُكَ أَوْ لَمْ أَكُنْ لِأُحَدِّثَكَ

د حسن نه روایت دے چه ابن زیاد د معقل بن یسار خواله لاړۀ او هغه په تکلیف کښې وو. (مخکښې پورتنی) د ابی الاشهب د حدیث پشان او دا ئے زیاته کړه چه ابن زیاد اووے چه تا ما ته دا حدیث مخکښې ولے بیان نۀ کړو. هغوی اووے چه ما نۀ دے بیان کړے. یا ما تاته ولے بیانولو.

عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ أَنَّ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ مَرِضَ فَأَتَاهُ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ زِيَادٍ يَعُودُهُ نَحْوَ حَدِيثِ الْحَسَنِ عَنْ مَعْقِلٍ

د ابوالاسود نه روایت دے چه معقل بن یسار بیمار شو. نو عبیدالله بن زیاد د هغوی تپوس له لاړۀ مخکښې د پورتنی حدیث پشان بیان کړو.

عَنِ الْحَسَنِ أَنَّ عَائِذَ بْنَ عَمْرٍو وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ دَخَلَ عَلَى عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ زِيَادٍ فَقَالَ أَيْ بُنَيَّ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ فَإِيَّاكَ أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ فَقَالَ لَهُ اجْلِسْ فَإِنَّمَا أَنْتَ مِنْ نُخَالَةِ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ فَقَالَ وَهَلْ كَانَتْ لَهُمْ نُخَالَةٌ إِنَّمَا كَانَتِ النُّخَالَةُ بَعْدَهُمْ وَفِي غَيْرِهِمْ

د حسن نه روایت دے چه عائذ بن عمرو چه د رسول الله ﷺ صحابی وو. هغه د عبید الله بن زیاد خواله لاړۀ او ورته ئے اووے اے خما بچیه! ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. د تولو نه بد څرونکے ظالم بادشاه دے (چه هغه رعیت تباه کوی) ته داسے نۀ شی. نو عبید الله اووے. کینه! ته د محمد ﷺ په صحابه کرامو کښې بهوس وے. بهوس خو په روستنو کښې دے. او په غیر خلقو کښې[1].

بَاب غِلَظِ تَحْرِيمِ الْغُلُولِ

باب: د غنیمت نه غلا کول سخته گناه ده

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَذَكَرَ الْغُلُولَ فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ أَمْرَهُ ثُمَّ قَالَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ بَعِيرٌ لَهُ رُغَاءٌ يَقُولُ يَا رَسُولَ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے وائی چه یوه ورځ رسول الله ﷺ اودریدو (مونږ ته د نصیحت کولو دپاره) نو بیان اوفرمائي حضرت ﷺ د غنیمت په مال کښې د غلا کولو او لویه گناه ئے ورته اوفرمائیله بیائے اوفرمائیل زۀ او نۀ مومم ستاسو نه هیڅوک لره د قیامت په ورځ چه هغه به راشی او د هغۀ په څټ باندے به اوښ برړیږی هغه به وائی یا رسول الله ﷺ خما مدد

[1] یعنی تۀ د افضلو صحابۀ کرامو نه نۀ ئے. بلکه په صحابۀ کښې ادنٰی درجه لرے لکه څنګه چه بهوس د غنمو نه اوخی. دا هم د ابن زیاد مردود یوه گستاخی ده او بے ادبی ده چه هغه د حضرت ﷺ د صحابۀ سره اوکړه. او د حضرت ﷺ صحابه خو ټول غوره او افضل وو

اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لاَ أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لاَ أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ يَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لاَ أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ نَفْسٌ لَهَا صِيَاحٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لاَ أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لاَ أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ

اوكړه. زۀ به اوواييم خما څۀ اختيار نشته دے. (نووي وائي يعني زۀ بغير د رب د حكم نه نۀ مغفرت كولے شم نۀ شفاعت او كيدے شي ړومبے د غصے نه حضرت ﷺ داسے اوفرمائي او بيا شفاعت اوكړي. په دے شرط چه هغه موحد وي لكه څنګه چه په كتاب الايمان كښې تير شو) او نۀ مومم زۀ ستاسو نه هيڅ لره چه هغه د قيامت په ورځ راشي او په څټ باندے ئے يو آس راخستے وي چه هغه هنړيږي او به وائي يا رسول الله! خما مدد اوكړه. زۀ به اوواييم ما ته څۀ اختيار نشته دے. ما خو تا ته وئيلي وو (يعني په دنيا كښې مے د الله تعالى حكم د رسولے وو چه د غلا سزا ډيره لويه ده. بيا تا ولے غلا كوله) او نۀ مومم زۀ ستاسو نه هيڅ يو كس لره چه هغه به د قيامت په ورځ راشي او په څټ به ئے يوه بزه راخستے وي چه هغه به مے مے كوي او اوبه وائي يا رسول الله! خما مدد اوكړه. زۀ به اوواييم خما څۀ اختيار نشته دے. ما خو تا ته د الله پاك حكم د رسولے وو. او او نۀ مومم زۀ ستاسو نه يو كس لره چه هغه به د قيامت په ورځ راشي چه په څټ باندے به ئے يو نفس راخستے وي چه هغه به چغے وهي (چا چه دۀ لره په دنيا كښې وژلے وو) بيا به اوو ائي يا رسول الله! خما مدد اوكړه. زۀ به وايم ما ته اختيار نشته دے. ما تا ته د الله حكم رسولے وو او او نۀ مومم زۀ ستاسو نه هيڅ يو كس لره چه هغه به راشي د قيامت په ورځ او په څټ باندے به ئے كپړے راخستے وي چه زورندے شوي به وي (چه هغے لره دۀ غلا كړے وي په دنيا كښې) يا د كاغذ ټكړے چه الوزي (چه په هغے كښې به دۀ باندے حقوق ليكلي وي) يا نور څيزونه چه هغه خوزيږي (چه هغه دۀ په دنيا كښې غلا كړے وي) بيا به اوو ائي يا رسول الله! خما مدد اوكړه. زۀ به وايم ما ته څۀ اختيار نشته دے ما خو تۀ خبر كړے وے او نۀ وينم زۀ ستاسو نه هيڅ

یو کس لره چه هغه به د قیامت په ورځ راشی او پخپل څټ به ئے سره زر، سپین زر، پیسے وغیره بار کړی وی. او اوبه وائی یا رسول اللهؐ څما مدد اوکړه. زهٔ به وایم څما څهٔ اختیار نشته دے. ما خو تا ته خبر درکړے وو[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِمِثْلِ حَدِيثِ إِسْمَعِيلَ عَنْ أَبِي حَيَّانَ

د ابوهریرهؓ نه هغسے حدیث مروی دے څنګه چه اسماعیل راوی د ابوحیان په واسطے سره بیان کړے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُلُولَ فَعَظَّمَهُ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ قَالَ حَمَّادٌ ثُمَّ سَمِعْتُ يَحْيَى بَعْدَ ذَلِكَ يُحَدِّثُهُ فَحَدَّثَنَا بِنَحْوِ مَا حَدَّثَنَا عَنْهُ أَيُّوبُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د مال غنیمت نه د غلا ذکر اوکړو او هغے لره ئے لوئی بیان کړو. مخکښې ئے پوره حدیث بیان کړو. حماد راوی وئیلی دی بیا ما یحیٰی لره اوریدلی دی چه مونږ ته راوی هغسے حدیث بیان کړو څنګه چه ایوب بیان کړے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

ابوهریرهؓ د نبیﷺ نه د پورتنو راویانو پشان حدیث بیان کړو.

بَاب تَحْرِيمِ هَدَايَا الْعُمَّالِ

باب: سرکاری نوکرانو دپاره تحفے اخستل حرام دی

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ

د ابوحمید ساعدیؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ د اسد قبیلے

[1] دا درے واړه ترجمے د رِقَاع تَحْفِیق دی. نووی وئیلی دی مسلمانانو اتفاق کړے دے چه غلول یعنی د غنیمت د مال نه غلا کول حرام او لویه ګناه ده. کچرے غلا ئے کړی نو هغه مال د واپس کړی. کچرے لښکر متفرق شی او رسول د هر یو حق والا د مال ممکن نهٔ وی نو په دے کښې د عالمانو اختلاف دے. د شافعی او د یوے طائفے په نیز به هغه مال امام یا حاکم ته اوسپاری په شان د نورو ضائع شوو مالونو او د حضرت ابن مسعودؓ او ابن عباسؓ او معاویهؓ او حسنؒ او زهریؒ او اوزاعیؒ او مالکؒ او ثوریؒ او لیثؒ او احمدؒ او جمهورو په نیز به پنځمه حصه د هغے امام ته ورکړی او باقی به صدقه ورکړی. او غلا کونکی ته به امام چه څنګه مناسب اوګنړی سزا ورکړی لیکن د هغه اسباب به نهٔ سیزی. د مالکؒ و شافعیؒ او ابوحنیفهؒ دغه قول دے. او د مکحولؒ او حسنؒ او اوزاعیؒ په نیز به د هغهٔ کور او اسباب ټول سوزولے شی. صرف وسله او کومے کپړے چه ئے اغوستے وی هغه به پریخودے شی. او حسنؒ وئیلی دی چه څناور او قرآن به پریخودے شی او دلیل د هغوی حدیث دے د عبدا الله بن عمر. جمهورو وئیلی دی چه هغه حدیث ضعیف دے ولے چه منفرد شو ددے سره صالح محمد بن سالم او هغه ضعیف دے طحاوی وئیلی دی کچرے دا روایت صحیح وی نو محمول دے په هغه زمانه باندے هر کله چه مالی سزاګانے صحیح وے. لکه د زکوٰه نهٔ ورکولو والا نیم مال اخستل بیا منسوخ شو. (یعنی اوس زمونږ په شریعت کښې تعزیر بالمال جائز دے او جرمانه کول په مال سره بالکل د شرع خلاف دی)

اسْتَعْمَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنَ الْأَسْدِ يُقَالُ لَهُ ابْنُ اللُّتْبِيَّةِ قَالَ عَمْرٌو وَابْنُ أَبِي عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ هَذَا لَكُمْ وَهَذَا لِي أُهْدِيَ لِي قَالَ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَقَالَ مَا بَالُ عَامِلٍ أَبْعَثُهُ فَيَقُولُ هَذَا لَكُمْ وَهَذَا أُهْدِيَ لِي أَفَلَا قَعَدَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ أَوْ فِي بَيْتِ أُمِّهِ حَتَّى يَنْظُرَ أَيُهْدَى إِلَيْهِ أَمْ لَا وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَا يَنَالُ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْهَا شَيْئًا إِلَّا جَاءَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَحْمِلُهُ عَلَى عُنُقِهِ بَعِيرٌ لَهُ رُغَاءٌ أَوْ بَقَرَةٌ لَهَا خُوَارٌ أَوْ شَاةٌ تَيْعِرُ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْنَا عُفْرَتَيْ إِبْطَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ مَرَّتَيْنِ

يو سړے چه خلقو به ورته لتبيه وئيلو د زكوٰة په وصولولو باندے مقرر كړو. هر كله چه هغه واپس راغے نو اوئے وئيل دا ستاسو مال دے. او دا ما ته د تحفے په طور ميلاؤ شوے دے. حضرت ﷺ منبر باندے اودريدو او د الله تعالى حمدوثنائے اووے. او بيائے اوفرمائيل. څۀ حال دے د هغه تحصيلدار چه هغۀ لره زۀ مقرر كړم او بيا وائي دا ستاسو مال دے او دا ما ته هديه ميلاؤ شوے ده. د خپل پلار يا مور په كور كښې ولے نۀ كيناستۀ چه بيائے ليدلے وے چه دۀ ته هديه ميلاويدے يا نه (يعني كچرے دغه وخت هم هر كله چه سركارى كار نۀ وى څوك هديه وركوى نو د هغۀ هديه د كار نه روستو هم صحيح ده. ورنه ظاهره خبره ده چه هغوى هديه په دباؤ سره وركړے ده يا بل غرض سره او داسے هديه اخستل حرام دى) قسم دے په هغه ذات د چا په لاس كښې چه د محمد روح دے هيڅ يو كس به ستاسو نه داسے مال اخستے نه وى مګر د قيامت په ورځ به ئے په خپل څټ بار كړے راوړى. كۀ اوښ وى نو بربړى به كۀ غوا وى نعرے به وهى كۀ بزه وى نو مے مے به كوى. بيا حضرت ﷺ خپل دواړه لاسونه اوچت كړل تردے پورے چه د ترخونو سپين والے ئے مونږ ته په نظر راغے. او حضرت ﷺ اوفرمائيل يا الله ما (ستا حكم) اورسوؤ.

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَ اللُّتْبِيَّةِ رَجُلًا مِنَ الْأَزْدِ عَلَى الصَّدَقَةِ فَجَاءَ بِالْمَالِ فَدَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَذَا مَالُكُمْ وَهَذِهِ هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ لِي فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَلَا قَعَدْتَ فِي بَيْتِ أَبِيكَ وَأُمِّكَ فَتَنْظُرَ

د ابوحميد ساعدى رضي نه روايت دے چه نبى ﷺ ابن لتبيه نومے يو سړى لره چه د ازد قبيلے وو، د زكوٰة په وصولو باندے حاكم مقرر كړو. نو هغۀ مال راوړو. او نبى ﷺ لره ئے وركړو او اوئے وئيل دا ستاسو مال دے (يعنى د زكوٰة) او دا مال د تحفے په طور راكړے شوے دے. نو نبى ﷺ هغۀ ته اوفرمائيل. تۀ د خپل مور پلار په كور كښې ولے نۀ كيښناستے. بيا به د كتلے چه تا ته هديه ميلاويږى يا نه

أَيُهْدَى إِلَيْكَ أَمْ لَا ثُمَّ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيبًا ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ سُفْيَانَ

بيا حضرتؐ د نصيحت فرمائيلو دپاره اودريدۀ. بيائے د سفيان راوی د حديث پشان ئے ذکر کړو.

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ اسْتَعْمَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنَ الْأَزْدِ عَلَى صَدَقَاتِ بَنِي سُلَيْمٍ يُدْعَى ابْنَ الْأُتْبِيَّةِ فَلَمَّا جَاءَ حَاسَبَهُ قَالَ هٰذَا مَالُكُمْ وَهٰذَا هَدِيَّةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَلَّا جَلَسْتَ فِي بَيْتِ أَبِيكَ وَأُمِّكَ حَتَّى تَأْتِيَكَ هَدِيَّتُكَ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا ثُمَّ خَطَبَنَا فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَسْتَعْمِلُ الرَّجُلَ مِنْكُمْ عَلَى الْعَمَلِ مِمَّا وَلَّانِي اللهُ فَيَأْتِي فَيَقُولُ هٰذَا مَالُكُمْ وَهٰذَا هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ لِي أَفَلَا جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ وَأُمِّهِ حَتَّى تَأْتِيَهُ هَدِيَّتُهُ إِنْ كَانَ صَادِقًا وَاللهِ لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْهَا شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ إِلَّا لَقِيَ اللهَ تَعَالَى يَحْمِلُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَلَأَعْرِفَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ لَقِيَ اللهَ يَحْمِلُ بَعِيرًا لَهُ رُغَاءٌ أَوْ بَقَرَةً لَهَا خُوَارٌ أَوْ شَاةً تَيْعَرُ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رُئِيَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ بَصُرَ عَيْنِي وَسَمِعَ أُذُنِي

د ابوحميد ساعدیؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ د اسد قبيلے يو سړی ته چه هغۀ ته به ئے ابن لبتيه وئيلو ، د بنی سليم د صدقے د وصول دپاره مقرر کړو. هر کله چه هغه راغے نو حضرتﷺ د هغۀ حساب واخستۀ هغۀ اووے دا خو ستاسو مال دے او دا هديه ده (کوم چه خلقو ماله راکړے دے) حضرتﷺ اوفرمائيل. تۀ کۀ د پلار يا د مور په کور کښې ناست وے. نو ستا هديه به تاله نو تهيك وه. بيا حضرتﷺ موږ ته خطبه اووئيله او د الله تعالی تعريف ئے اوکړو او صفت ئے اوکړو. روستو د هغے نه ئے اوفرمائيل. زۀ په تاسو کښې چا لره په يو کار د کارونو نه مقر کړم کوم چه الله تعالی ما ته راکړی دی. بيا هغه راځی او وائی دا ستاسو مال دے او دا ماته هديه ميلاؤ شوے ده. عجيبه خبره ده هغه د خپل پلار يا مور په کور کښې ولے نۀ کينی چه بيې د هغۀ هديه هغۀ ته راشی کچرے هغه رښتونے وی. قسم دے په اللهؓ چه څوك د ستاسو نه څۀ څيز په ناحقه وانخلی مګر د الله تعالی سره به ميلاويږی هغے لره بار کړے شوے او زۀ به ئے پيژنم ستاسو نه هغه کس چه ميلاويږی د الله سره او اوښ به ئے په څټ باروی او هغه به پرپريږی. يا به ئے غوا په څټ بار وی او هغه به نعرے وهی. يا به ئی بزه په څټ بار وی او هغه به مے مے کوی. بيا حضرتﷺ خپل دواړه لاسونه اوچت کړل تر دے پورے چه د هغۀ د ترخونو سپين والے ښکاره شو. او حضرتﷺ اوفرمائيل الله ما رااورسوؤ. ابوحميد وئيلی دی چه خما سترګو دا اوليدو او خما غوږونو واوريدل.

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ

د هشام نه په دے اسناد سره روايت دے او د عبده او د نمير په روايت

عَبدة وَابن نُمَيرٍ فَلَمَّا جَاءَ حَاسَبَه كَمَا قَالَ أَبُو أُسَامَةَ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ نُمَيرٍ تَعْلَمُنَّ وَاللهِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَأْخُذُ أَحَدُكُمْ مِنْهَا شَيْئًا وَزَادَ فِي حَدِيثِ سُفْيَانَ قَالَ بَصُرَ عَيْنِي وَسَمِعَ أُذُنَايَ وَسَلُوا زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ فَإِنَّهُ كَانَ حَاضِرًا مَعِي

د هغهٔ نه حساب واخستهٔ نو حضرت ﷺ کښې دي چه هر کله هغه راغے. خنګه چه د ابواسامه په حديث کښې دي. او د ابن نمير په حديث کښې دا هم دي تاسو به ضرور پوهه شئ په الله مې دِ قسم وي چه د هغهٔ په قبضه کښې خما روح دے په تاسو کښې به څوك څهٔ وانخلي. او د ابوسفيان په حديث کښې دا زيات دي چه هغوی اووے خما سترګو اوليدل او خما غوږونو واوريدل او د زيد بن ثابت نه تپوس اوکړئ. ځکه چه هغه هم په هغه وخت خما سره موجود وو.

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَ رَجُلًا عَلَى الصَّدَقَةِ فَجَاءَ بِسَوَادٍ كَثِيرٍ فَجَعَلَ يَقُولُ هَذَا لَكُمْ وَهَذَا أُهْدِيَ إِلَيَّ فَذَكَرَ نَحْوَهُ قَالَ عُرْوَةُ فَقُلْتُ لِأَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ أَسَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مِنْ فِيهِ إِلَى أُذُنِي

د ابوحميد ساعدی نه روايت دے چه رسول الله ﷺ يو سړی لره د زکوٰة د وصولولو دپاره مقرر کړو. هغه ډير څيزونه راوړل راغے اوئے وئيل دا خو ستاسو مال دے. او دا ما ته په هديه کښې ميلاؤ شوے دے. بيائے بيان کړو حديث لره په دغه شان لکه چه پورته تير شو. عروه وائی چه ما د ابوحميد ساعدی نه تپوس اوکړو چه دا حديث تا د رسول الله ﷺ نه اوريدلے دے. هغوی اووے بيشکه د حضرت ﷺ خلے مبارکے نه خما غوږونو اوريدلے دے.

عَنْ عَدِيِّ بْنِ عَمِيرَةَ الْكِنْدِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ كَانَ غُلُولًا يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ أَسْوَدُ مِنَ الْأَنْصَارِ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اقْبَلْ عَنِّي عَمَلَكَ قَالَ وَمَا لَكَ قَالَ سَمِعْتُكَ تَقُولُ كَذَا وَكَذَا قَالَ وَأَنَا أَقُولُهُ الْآنَ

د عدی بن عميره نه روايت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه اوئے فرمائيل کوم سړی لره چه ستاسو نه مونږ په څهٔ يو کار باندے مقرر کړو. بيا هغه يوه ستن يا د دے نه زيات پټ کړی نو هغه غلول دے. د قيامت په ورځ به ئے هغه رااخستی وی او را به شی. د دے په اوريدو يو غنم رنګے انصاری اودريدو لکه چه هغهٔ لره زهٔ وينمه او اوئے وئيل يا رسول الله! خپل کار خما نه واخلئ. حضرت ﷺ اوفرمائيل. تا له څهٔ شوی دی. هغهٔ اووے ما واوريدل چه تاسو فرمائيل. داسے داسے (يعنی د يوے ګندلو د ستن به هم مواخذه وی) حضرت ﷺ اوفرمائيل. زهٔ اوس هم وايم. خو چه چا لره مونږ په کار باندے مقرر کړو

مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَلْيَجِئْ بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَ وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى

او هغه لر ډیر خیزونه واخلی او راشی بیا چه څهٔ دهٔ ته میلاؤ شی (د امیر له طرفنه) هغه واخلی او کهٔ د هغې نه میلاؤ نهٔ شی نو قلار شی (په دے صورت کښې څهٔ هم مواخذه نشته دے)

عَنْ عَدِيِّ بْنِ عَمِيرَةَ الْكِنْدِيِّ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ

عدی بن عمیره کندی وئیل چه ما اوریدلی دی چه رسول الله ﷺ د پورتنو راویانو د حدیث پشان اوفرمائیلو.

بَاب وُجُوبِ طَاعَةِ الْأُمَرَاءِ فِي غَيْرِ مَعْصِيَةٍ وَتَحْرِيمِهَا فِي الْمَعْصِيَةِ

باب: د بادشاه یا د حاکم یا د امام اطاعت واجب دے په هغه کار کښې چه ګناه نهٔ وی. او په ګناه کښې اطاعت کول حرام دی

عَنْ حَجَّاجِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ نَزَلَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فِي عَبْدِ اللهِ بْنِ حُذَافَةَ بْنِ قَيْسِ بْنِ عَدِيٍّ السَّهْمِيِّ بَعَثَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ أَخْبَرَنِيهِ يَعْلَى بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ

د حجاج بن محمد نه روایت دے ابن جریج وائی دا آیت اے ایمان والو! د الله اطاعت کوئ او د هغهٔ د رسول او د هغه چا چه حاکمان وی ستاسو د عبد الله بن حذافه په باب کښې نازل شوے دے. هر کله چه رسول الله ﷺ هغه د یو فوج سردار کړو او اوئے لیږو. ابن جریج وائی بیان کړے دے ما ته دا حدیث یعلی بن مسلم هغوی اوریدلے د سعید بن جبیر نه او هغوی د ابن عباس نه[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ يَعْصِنِي فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چا چه خما اطاعت اوکړو هغه د الله تعالی اطاعت اوکړو او چا چه خما نافرمانی اوکړه هغه د الله تعالی نافرمانی اوکړه. او چا چه اطاعت اوکړو د حاکم (کوم چه ما مقرر کړے دے) هغه خما اطاعت اوکړو او چا چه د هغهٔ نافرمانی اوکړه هغهٔ خما نافرمانی اوکړه.

عَنْ أَبِي الزِّنَادِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ وَمَنْ

د ابوالزناد په دے اسناد سره روایت دے او په دے کښې دا ذکر

---

[1] د دے روایت نه معلومه شوه چه د اولوالامر نه حاکمان او امیران مراد دی د مسلمانانو دغه قول دے د جمهور سلف او خلف چه مفسرین او فقهاء نه دی او خنو وئیلی دی علماء مراد دی او خنو وئیلی دی امراء او علماء دواړه مراد دی او چا چه وئیلی دی چه صرف صحابه مراد دی هغهٔ غلطی کړی ده (نووی)

يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي

نشته دے چه چا د امیر تابعداری اوکړه هغهٔ ځما نافرمانی اوکړه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ عَصَى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ اوفرمائیل چا چه ځما اطاعت اوکړو هغهٔ د الله تعالی اطاعت اوکړو او چا چه ځما نافرمانی اوکړه هغهٔ د الله نافرمانی اوکړه او چا چه ځما د امیر اطاعت اوکړو هغهٔ ځما اطاعت اوکړو او چا چه ځما د امیر نافرمانی اوکړه هغهٔ ځما نافرمانی اوکړه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ سَوَاءً

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی بالکل هم داسے (څنګه چه پورته تیر شو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نحو حديثهم

د ابوهریرهؓ روایت د نبیﷺ نه (د پورتنو) راویانو د حدیث په شان دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے هغوی د نبیﷺ نه روایت کړے دے د پورتنو راویانو د حدیث پشان.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذٰلِكَ وَقَالَ مَنْ أَطَاعَ الْأَمِيرَ وَلَمْ يَقُلْ أَمِيرِي وَكَذٰلِكَ فِي حَدِيثِ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ نه هم دغسے روایت کوی. او په دے روایت کښ دادی چه حضرتﷺ اوفرمائیل چا چه د امیر اطاعت اوکړو. او دا ئے نهٔ دی فرمائیلی ځما د امیر. او هم دغسے دی په دے حدیث کښ کوم چه همام د ابوهریرهؓ نه روایت کړے دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكَ السَّمْعَ وَالطَّاعَةَ فِي عُسْرِكَ وَيُسْرِكَ وَمَنْشَطِكَ وَمَكْرَهِكَ وَأَثَرَةٍ عَلَيْكَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه جناب رسول اللهﷺ اوفرمائیل په تا باندے لازم دی اوریدل او اطاعت کول (د حاکم د خبرے) په تکلیف او راحت کښ په خوشحالئ او غم کښ. او په هغه وخت کښ چه ستا حق بل چاله ورکړی (یعنی اګر چه حاکم ستا حق تلفی هم اوکړی. او کوم سړے چه ستا نه کم خلق لری هغه په تا باندے مخکښ کړی بیا هم صبر او اطاعت کول پلار دی. او فساد کول او فتنه خورول منع دی. نوویؒ وئیلی دی دا اطاعت په داسے صورت کښ دے هر کله چه حاکم

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ إِنَّ خَلِيلِي أَوْصَانِي أَنْ أَسْمَعَ وَأُطِيعَ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا مُجَدَّعَ الْأَطْرَافِ

د شرع نه خلاف نهٔ وی او کچرے د شرع نه خلاف وی نو اطاعت به ئے نهٔ کوی.

د ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه خما دوست جناب رسول الله ﷺ ما ته وصیت کړے دے د اوریدو او اطاعت کولو اګر کهٔ د یو غلام لاس او خپے پریکړے شوے حاکم وی.

عَنْ أَبِي عِمْرَانَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعَ الْأَطْرَافِ

د ابو عمران نه په دے اسناد سره روایت دے او په دے حدیث کښ دا دی کهٔ حبشی غلام وی خپے لاسونه کټ کړے شوے.

عَنْ أَبِي عِمْرَانَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ كَمَا قَالَ ابْنُ إِدْرِيسَ عَبْدًا مُجَدَّعَ الْأَطْرَافِ

د ابوعمران په دے اسناد سره هم دغسے روایت دے څنګه چه د ابن ادریس چه کهٔ غلام لاس خپے پرے کړے شوے[1].

عَنْ يَحْيَى بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ سَمِعْتُ جَدَّتِي تُحَدِّثُ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ يَقُولُ وَلَوِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا

د یحیٰی بن حصین رضی الله عنه نه روایت دے چه هغوی د خپلے نیا نه اوریدلی دی او هغوی اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه هغوی خطبه په حجة الوداع کښ لوستله نو حضرت ﷺ او فرمائیل کچرے په تاسو باندے یو غلام حاکم کړے شی چه په تاسو حکومت د الله تعالی د کتاب موافق کوی. نو د هغهٔ فرمانبرداری کوئ او د هغهٔ حکم منئ.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ عَبْدًا حَبَشِيًّا و حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا و حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ بِشْرٍ حَدَّثَنَا بَهْزٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا وَزَادَ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى أَوْ بِعَرَفَاتٍ

د شعبه نه په دے اسناد سره روایت دے په دے کښ دی حبشی لاس خپے پرے کړے شوے. او د شعبه نه په دغه اسناد سره په یو بل روایت کښ د حبشی لاس خپے پرے کړی شوی ذکر نشته او په دی کښ دا زیاته ده چه هغهٔ واورید ل د رسول الله ﷺ نه په منی یا عرفات کښ.

[1] نووی رحمه الله ونیلی دی د غلام امارت په هغه صورت کښ صحیح دے. هر کله چه هغهٔ ته چا امام حکومت ورکړے وی. یا په خپل زور او شان شوکت سره سلطنت حاصل کړی. او د شروع نه ورله حکومت ورکول صحیح نهٔ دی بلکه د هغهٔ شرط آزادی ده. انتهی.

عَنْ يَحْيَى بْنِ حُصَيْنٍ عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَ سَمِعْتُهَا تَقُولُ حَجَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْلاً كَثِيرًا ثُمَّ سَمِعْتُهُ يَقُولُ إِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ حَسِبْتُهَا قَالَتْ أَسْوَدُ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا

يحيى بن حصين د خپلے نيا ام حصينؓ نه روايت کوی چه هغوی وئيلی دی چه ما د رسول اللهﷺ سره حج وداع اوکړو. نو حضرتﷺ ډيرے غوندے خبرے اوکړے. بيا ما واوريدل چه حضرتﷺ فرمائيل .کچرے په تاسو باندے لاس خيے پريکړے شوے تور غلام هم امير شی. او د الله تعالى د کتاب موافق هغه حکومت چلول غواړی نو د هغهٔ فرمانبرداری کوئ او د هغهٔ خبرے لره اورئ[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ إِلاَّ أَنْ يُؤْمَرَ بِمَعْصِيَةٍ فَإِنْ أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلاَ سَمْعَ وَلاَ طَاعَةَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فـ.مائيلی دی په مسلمان باندے اوريدل او منل واجب دی (د حاکم د خبرے) خواه که دقته غوره وی يا نهٔ وی. مگر هر کله چه حکم اوکړی د گناه نو نهٔ ئے اوريدل پکار دی او نهٔ ئے منل.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د عبيد اللهؓ نه په دے اسناد سره د پورتنی حديث پشان روايت دے.

عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ جَيْشًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ رَجُلاً فَأَوْقَدَ نَارًا وَقَالَ ادْخُلُوهَا فَأَرَادَ نَاسٌ أَنْ يَدْخُلُوهَا وَقَالَ الآخَرُونَ إِنَّا قَدْ فَرَرْنَا مِنْهَا فَذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِلَّذِينَ أَرَادُوا أَنْ يَدْخُلُوهَا لَوْ دَخَلْتُمُوهَا لَمْ تَزَالُوا فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَقَالَ لِلآخَرِينَ قَوْلاً حَسَنًا وَقَالَ لاَ طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةِ

د امير المؤمنين حضرت علیؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ يو لښکر اوليږو او په هغے باندی ئے يو سړی لره حاکم کړو. هغه حاکم اُور بل کړو او خلقو ته ئے اووے په دے کښ ننوځئ خنو غوښتل چه (د حاکم په حکم) په دغه انکار کښ ننوځئ او خنو اووے چه موږ خو د اُور نه اوتښتيدو نو مسلمانان شو (کفر مو پريخودهٔ د جهنم نه موږ اوريدو اوس بيا په اُور کښ ننوځو دا زموږ نه نهٔ شی کيدے) بيا د دے خبرے ذکر رسول اللهﷺ ته اوشو نو حضرتﷺ اوفرمائيل هغه خلقو ته چا چه د ننوتلو اراده کړے وه. کچرے تاسو ننوتے وے نو هميشه به په دغے کښ پاتے شوے وئ (خکه چه دا خودکشی ده او په شريعت کښ حرامه

---

[1] دے حدينونو نه معلوميږی چه کچرے امير د اسلام قرشی نهٔ وی بيا هم د هغهٔ فرمانبرداری په هغه خبرو کښ چه د شريعت خلاف نهٔ وی واجب ده او د هغهٔ نه بے وجے بغاوت حرام دے. او د هغهٔ په ملگرتيا کښ د کافرو سره جنگيدل صحيح دی

اللهِ إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ

ده) د قیامته پورے. او کوم خلق چه په تښتیدلو راضی نهٔ شو د هغوی تعریف ئے اوکړو او اوئے فرمائیل. د الله په نافرمانئ کښې د چا اطاعت نشته دے بلکه اطاعت کښې دے چه هغه د نیکئ خبره وی[1].

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَسْمَعُوا لَهُ وَيُطِيعُوا فَأَغْضَبُوهُ فِي شَيْءٍ فَقَالَ اجْمَعُوا لِي حَطَبًا فَجَمَعُوا لَهُ ثُمَّ قَالَ أَوْقِدُوا نَارًا فَأَوْقَدُوا ثُمَّ قَالَ أَلَمْ يَأْمُرْكُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَسْمَعُوا لِي وَتُطِيعُوا قَالُوا بَلَى قَالَ فَادْخُلُوهَا قَالَ فَنَظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَى الْبَعْضِ فَقَالُوا إِنَّمَا فَرَرْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ النَّارِ فَكَانُوا كَذٰلِكَ وَسَكَنَ غَضَبُهُ وَطُفِئَتِ النَّارُ فَلَمَّا رَجَعُوا ذَكَرُوا ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ دَخَلُوهَا مَا خَرَجُوا مِنْهَا إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ

د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ یو لښکر اولیږلو او په هغے بانْدے ئے یو انصاری حاکم کړو (نووی رحمه الله وائی دد ے نه معلومه شوه چه هغه سړے عبد الله بن حذافه ئهٔ وو) او حکم ئے اوکړو خلقو ته د هغهٔ د فرمانبردارئ او د هغهٔ د خبرے اوریدلو. بیا هغه خلقو هغوی لره په څهٔ خبره غصه کړو. هغهٔ اووے لرګی راجمع کړئ خلقو لرګی راجمع کړل. هغوی اووے اُور بل کړئ هغوی اُور بل کړو. بیا هغه سړی اووے. آیا رسول الله ﷺ تاسو ته حکم نهٔ دے کړے څما د خبرے اوریدلو او څما د فرمانبردارئ کولو؟ هغوی اووے بیشکه حضرت موږ ته د غسے حکم کړے دے. هغهٔ اووے پس تاسو په دے اُور کښې ننوځئ. دد ے خبرے په اوریدو خلقو یو بل ته اوکتل او اوئے وئیل چه موږ خو د دغے اُور نه (د جهنم) تختیدو د رسول الله ﷺ خواله راغلو. بیا هغوی په دغه حال کښې وو چه د هغهٔ غصه سړه شوه او هغهٔ اُور مړ کړے شو. هر کله چه واپس راغلو نو هغوی رسول الله ﷺ ته دد ے خبرے ذکر اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے په اُور کښې ننوتے وئ نو بیا به واپس نهٔ وئ راوتی. اطاعت کول په هغه باب کښې لازم دی چه هغه واجبی وی (یعنی د شریعت په بنا منع نهٔ وی. نووی رحمه الله وائی هغه دا خبره د

---

[1] یعنی د شرع نه خلاف چه کومه خبره وی هغے لره هیڅ کله منل نهٔ دی پکار. بلکه ټول د په جمع دغے بادشاه لره پوهه کړی او هغه د، د شرع په مخالفت د ظلم کولو نه منع کړی او کهٔ نهٔ منع کیږی نو هغه د، د خلافت نه معزول کړی او د هغهٔ په ځائے دِ بل د الله په کتاب چلیدونکے خلیفه مقرر کړی. ځکه چه اطاعت د بادشاه یا خلیفه بالذات نهٔ دے بلکه بادشاه او خلیفه هم د نورو خلقو بنیادمو پشان بنیادم دے د کومے پورے چه هغه د شریعت موافق چلیږی نو د هغهٔ اطاعت بالذات نهٔ دے بلکه د شریعت اطاعت دے او هر کله چه هغه د شریعت خلاف وی د هغهٔ اطاعت په خلقو ضروری پاتے نهٔ شو.

امتحان اخستلو دپاره کړے وه. یا د توقو نه خو په هر حال کښې د شرع نه په خلاف خبره کښې د امیر اطاعت کول نۀ دی پکار.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د اعمش نه په دے اسناد سره دغسے حدیث مروی دے.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ وَعَلَى أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا لَا نَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ

د عباده بن صامت رضی نه روایت دے وائی چه مونږ بیعت اوکړو د جناب رسول الله ﷺ نه په اوریدلو او خبره منلو باندے. په سختئ او راحت کښې. په خوشحالئ او غم کښې. او اګر که زمونږ د حق خیال اونۀ ساتلے شی. او په دے امر باندے چه مونږه جهګړه نۀ کوو د هغه سړی په سردارئ کښې چه هغه ددے لائق دے. او مونږ به رښتیا وایو هر چرته چه یو د الله په لاړ کښې به مونږ د چا ملامت کونکو د ملامتے نه نۀ یریږو.[1]

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ عَنْ أَبِيهِ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ إِدْرِيسَ

د عباده بن صامت رضی نه روایت دے هغوی اووے چه مونږ بیعت اوکړو د رسول الله ﷺ (مخکښې مضمون) د ابن ادریس راوی د حدیث پشان دے.

عَنْ جُنَادَةَ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ وَهُوَ مَرِيضٌ فَقُلْنَا حَدِّثْنَا أَصْلَحَكَ اللهُ بِحَدِيثٍ يَنْفَعُ اللهُ بِهِ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دَعَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْنَاهُ فَكَانَ فِيمَا أَخَذَ عَلَيْنَا أَنْ بَايَعَنَا عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا

د جناده بن أمیه نه روایت دے چه مونږ د عباده بن صامت رضی خواله لاړو هغه بیمار وو. مونږه اووے. بیان کړه مونږ ته الله تعالی د تا ښۀ کړی داسے یو حدیث چه په هغے سره الله فائده اورسی (سونږ ته) او څۀ چه تا اوریدلی وی د رسول الله ﷺ نه هغوی اووے مونږ رااوغوښتو رسول الله ﷺ او مونږ د هغوی نه بیعت اوکړو. او حضرت ﷺ چه کومے وعدے واخستے په هغے کښې ئے دا هم اوښودلے چه مونږ بیعت کوؤ په خبره اوریدلو او اطاعت کولو باندے په خوشحالئ او غم کښې او سختئ او آسانتئ کښې او

[1] دغه خبرے د اسلام دی او کوم مسلمان چه دنیاساز، خوشامد باز د حقے خبرے پټونکے او د دنیا دارو د ملامتے نه یریدونکے وی هغه پوره مسلمان نۀ دے بلکه په دۀ کښې د کفارو خصلتونه موجود دی. دۀ لره پکار دی چه توبه اوباسی او رښتین والی او جرأت او بهادری او رښتیا ونیل او وفاداری اختیار کړی.

وَأَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ قَالَ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ فِيهِ بُرْهَانٌ

زمونږ په حقونو تلف کیدو کښې. او مونږ جهګړه نهٔ کوو دهغه سرې په خلافت کښې چه هغه ددے لائق وی. مګر هر کله چه پکښې ښکاره ښکاره کفر اووینو چه هغه د الله تعالی په نز د حجت شی[1].

بَابُ الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ

باب : امام د مسلمانانو ډهال دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَعَدَلَ كَانَ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرٌ وَإِنْ يَأْمُرْ بِغَيْرِهِ كَانَ عَلَيْهِ مِنْهُ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه امام ډهال دے د هغهٔ نه شا ته مسلمانان جنګیږی (د کافرانو سره) او د هغهٔ په وجه خلق بچ کیږی د تکلیف نه (د ظالمانو او لوټ کونکو نه) پس کچرے هغه حکم کوی د الله نه د یریدو او انصاف کوی نو د هغهٔ دپاره ثواب دےاو کچرے د هغهٔ خلاف حکم ورکړی نو په هغهٔ باندے به وبال وی

---

[1] نووی وئیلی دی د کفر نه مراد معاصی دی او مطلب دا دے چه صفا صفا د شرع نه په خلاف کولو ئے اووینے نو دغه وخت چپ مهٔ پاتے کیږئ بلکه هغهٔ ته اووایئ او حقه خبره ورته بیان کړئ خو د مسلمان حاکم سره جنګ کول او بغاوت کول حرام دی په اجماع د اهل اسلام اګر کهٔ هغه فاسق وی یا ظالم او ددے دلیل ډیر حدیثونه دی. او اجماع کړے ده اهل سنتو چه امام د فسق په وجه سره نهٔ شی معزول کیدے. مګر زمونږ د ملګرو چه څنو کتابونو کښې دی چه هغه به معزوله کیږی او د معتزلو هم دغه قول دے. او دا غلط دے مخالفت دے د اجماع. او سبب د نهٔ معزوله کیدو دا دے چه په معزوله کولو کښې د فساد او خونریزئ یره ده. قاضی عیاضؒ وئیلی دی چه علمائے کرامو اجماع کړے ده چه امامت د کافر صحیح نهٔ دے. او هر کله چه امام کافر اوګرځی نو هغه به معزوله کیدے شی. دغه شان کچرے مونځ پریږدی یا بدعت شروع کړی نو د جمهورو هم دغه قول دے بیا کافر اوګرځی یا د شرع احکام بدل کړی یا بدعت رااوباسی نو د هغهٔ ولایت به تلے شی. او د هغهٔ اطاعت به ساقط کیدے شی او په مسلمانانو باندے واجب دی چه هغهٔ لره معزول کړی او د هغهٔ په ځائے یو عادل امام مقرر کړی او د بدعت ویستلو په صورت کښې د هغهٔ معزوله کول واجب نهٔ دی. مګر په هغه صورت کښې چه په مسلمانانو کښې طاقت وی د هغهٔ د معزوله کولو. خو د هغه د ملك نه هجرت کول پکار دی. او خپل دین بچکول پکار دی. او د فاسق امامت د شروع نه صحیح نهٔ دے. لیکن کهٔ د امامت نه پس فاسق شی نو بعضو په نز د هغهٔ معزوله کول واجب دی کچرے بغیر د فساد او جنګ نه معزوله کیدے شی. او د جمهور اهل سنتو او د فقهاؤ او محدثینو او متکلمینو نه دا قول دے چه هغه به د ظلم یا حق تلفئ په وجه سره نهٔ معزوله کیږی او نهٔ به معزوله کولے شی. او دهغهٔ سره جنګ یا بغاوت کول صحیح نهٔ دی. بلکه هغهٔ ته نصیحت کول او یرول واجب دی. قاضی عیاضؒ وئیلی دی ابن مجاهدؒ په دے باندے د اجماع وعده کړے ده. لیکن رد کړے ده بعضو دغه دعوے لره څکه چه امام حسن علیه السلام او عبد الله بن زبیرؓ او اهل مدینه د بنی اُمیه خلاف رااوچت شو او یو لوئے جماعت د تابعینو او د صدرِ اول ابن اشعث سره شو د حجاج سره د جنګ کولو دپاره. قاضی عیاضؒ وئیلی دی کیدے شی دا اختلاف رومبے وو پس ددے نه پس اجماع شوه. والله اعلم انتهی مختصراً

بَاب وُجُوبِ الْوَفَاءِ بِبَيْعَةِ الْخُلَفَاءِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ

باب: د کوم خلیفه سره چه اول بیعت اوشی هغهٔ لره قائم ساتل پکار دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ خَمْسَ سِنِينَ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ تَكْثُرُ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ وَأَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه نبیﷺ فرمائیلی دی د بنی اسرائیلو حکومت به پیغمبر کولو. هر کله چه به یو پیغمبر وفات شو نو بل پیغمبرؑ به د هغهٔ په ځائے خلیفه شو. خو نه پس ځوك پیغمبرؑ نشته دے بلکه خلیفه به وی او ډیر به وی. خلقو عرض اوکړو بیا تاسو مونږ ته څهٔ حکم کوئ؟ حضرتﷺ اوفرمائیل د چا سره چه مخکښ بیعت اوکړئ د هغهٔ بیعت پوره کوئ او د هغهٔ حق ادا کوئ پس الله به تپوس کوی د هغهٔ نه د هغه څهٔ چه دهٔ لهٔ ئے ورکړی دی[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا سَتَكُونُ بَعْدِي أَثَرَةٌ وَأُمُورٌ تُنْكِرُونَهَا قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تَأْمُرُ مَنْ أَدْرَكَ مِنَّا ذٰلِكَ قَالَ تُؤَدُّونَ الْحَقَّ الَّذِي عَلَيْكُمْ وَتَسْأَلُونَ اللهَ الَّذِي لَكُمْ

د حضرت عبد اللهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. خما نه پس به حق تلفی وی او داسے داسے خبرے به پیدا شی چه هغه به تاسو بدے گنړئ. صحابوؓ عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ په دغه زمانه کښ چه ځوك وی هغوی ته ستاسو څهٔ حکم دے؟ حضرتﷺ اوفرمائیل ادا کوئ هغه حق لره چه په تاسو باندے دے (یعنی طاعت او فرمانبرداری) او څهٔ چه ستاسو حق دے هغه د پروردګار نه غواړئ (چه الله تعالی هغهٔ ته هدایت نصیب کړی یا هغه بدل کړی او عادل حاکم تاسو له درکړی)

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ رَبِّ الْكَعْبَةِ

د عبد الرحمٰن بن عبد رب الکعبه نه روایت دے وائی چه زهٔ جماعت

---

[1] نوویؒ وئیلی دی مطلب د حدیث دا دے چه هر کله د یو خلیفه سره بیعت اوکړے شی بیا د هغهٔ په موجود والی کښ د بل خلیفه سره بیعت اوشی نو د اول بیعت صحیح دے او د دغه دویم بیعت حرام دے. خکه چه هغې لره پوره کول حرام دی. خواه دویم بیعت د اولنی بیعت د معلومیدو باوجود شوے وی. یا په بے خبرئ کښ شوے وی. خواه کهٔ په یو قرن (زمانه) کښ شوے وی یا په دوؤ قرنو کښ شوے وی. او د علماؤ په دے باندے اتفاق دے چه په یوه زمانه کښ دوه خلیفه نهٔ شی کیدے. اګر کهٔ دار الاسلام ډیر وسیع وی. مګر امام الحرمین وائی چه هر کله دوه ملکونه په ډیره فاصله باندے وی. او یو خلیفه نه ډیر لرے وی نو احتمال دے چه تعدد جائز وی. نووی وئیلی دی دا قول مخالف دے د سلف او خلف او د ظاهر احادیثو.

قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ جَالِسٌ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ وَالنَّاسُ مُجْتَمِعُونَ عَلَيْهِ فَأَتَيْتُهُمْ فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فَمِنَّا مَنْ يُصْلِحُ خِبَاءَهُ وَمِنَّا مَنْ يَنْتَضِلُ وَمِنَّا مَنْ هُوَ فِي جَشَرِهِ إِذْ نَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ جَامِعَةً فَاجْتَمَعْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ قَبْلِي إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ يَدُلَّ أُمَّتَهُ عَلَى خَيْرِ مَا يَعْلَمُهُ لَهُمْ وَيُنْذِرَهُمْ شَرَّ مَا يَعْلَمُهُ لَهُمْ وَإِنَّ أُمَّتَكُمْ هَذِهِ جُعِلَ عَافِيَتُهَا فِي أَوَّلِهَا وَسَيُصِيبُ آخِرَهَا بَلَاءٌ وَأُمُورٌ تُنْكِرُونَهَا وَتَجِيءُ فِتْنَةٌ فَيُرَقِّقُ بَعْضُهَا بَعْضًا وَتَجِيءُ الْفِتْنَةُ فَيَقُولُ الْمُؤْمِنُ هَذِهِ مُهْلِكَتِي ثُمَّ تَنْكَشِفُ وَتَجِيءُ الْفِتْنَةُ فَيَقُولُ الْمُؤْمِنُ هَذِهِ هَذِهِ فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُزَحْزَحَ عَنِ النَّارِ وَيُدْخَلَ الْجَنَّةَ فَلْتَأْتِهِ مَنِيَّتُهُ وَهُوَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَأْتِ إِلَى النَّاسِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُؤْتَى إِلَيْهِ وَمَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ فَلْيُطِعْهُ إِنِ اسْتَطَاعَ فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا

ته لاړم هلته عبد الله بن عمرو بن العاص د کعبې په سوري باندې ناست وو او خلق د هغهٔ په خواه کښې جمع وو. زهٔ هم لاړم او کښېناستم. هغوی اووے مونږ په یو سفر کښې د رسول الله ﷺ سره وو نو په یو ځائے کښې کوز شو چا خپله دیره برابروله چا غشي ويشتل څوك په خپلو څناورو کښې وو. چه په دے کښې د رسول الله ﷺ اواز کونکي آواز اوکړو. چه د مانځهٔ دپاره راجمع شئ. مونږه ټول د حضرت ﷺ خواته جمع شو. حضرت ﷺ اوفرمائيل. څما نه مخکښې يو نبي داسے نهٔ دے تير شوے چه په هغهٔ باندے د خپل امت ضرور نهٔ وو خپل امت ته ښودل کومه خبره چه دهٔ ته ښهٔ معلوميږي او کومه خبره چه بده معلوميده د هغے نه يرول او ستاسو دا امت د دے په رومبئ حصه کښې سلامتي ده او په اخيره حصه کښې بلا ده او هغه خبرے دي چه په تاسو به بدے لګي. او داسے فتنے به راځي چه يوه فتنه به هغه رومبئ لره کمه او سپکه کړي (يعنې هغه روستنئ فتنه به دومره زياته وي چه د رومبئ فتنے به د هغے په مخکښې څهٔ حقيقت نهٔ وي) او يوه فتنه چه راځي نو مؤمن به وائي په دے کښې څما تباهي ده. بيا به هغه لرې شي او بله به راځي نو مؤمن به وائي په دے کښې څما تباهي ده. پس چه څوك غواړي چه د جهنم نه د بچ شي او جنت ته د لاړ شي نو هغهٔ له پکار دي چه په الله تعالى باندے او په ورځ د آخرت باندے د يقين سره مړ شي. او د خلقو سره هغه سلوك کوي څنګه چه هغه غواړي او خلق د دهٔ سره کوي او کوم سړے چه د چا امام نه بيعت اوکړي او هغه له خپل لاس ورکړي او په زړهٔ سره د هغهٔ د تابعداري نيت اوکړي نو د هغهٔ فرمانبرداري دِ کوي کچرے طاقت ئے وي. اوس کچرے بل امام د هغهٔ سره جنګ له راشي نو (هغه منع کوي کچرے نهٔ منع کيږي بغير د جنګ نه) نو د هغهٔ څټ اووهئ.

عُنُقَ الْآخَرِ فَدَنَوْتُ مِنْهُ فَقُلْتُ لَهُ أَنْشُدُكَ اللهَ آنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهْوٰى إِلَى أُذُنَيْهِ وَقَلْبِهِ بِيَدَيْهِ وَقَالَ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي فَقُلْتُ لَهُ هٰذَا ابْنُ عَمِّكَ مُعَاوِيَةُ يَأْمُرُنَا أَنْ نَأْكُلَ أَمْوَالَنَا بَيْنَنَا بِالْبَاطِلِ وَنَقْتُلَ أَنْفُسَنَا وَاللهُ يَقُوْلُ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَأْكُلُوْا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوْا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا قَالَ فَسَكَتَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ أَطِعْهُ فِيْ طَاعَةِ اللهِ وَاعْصِهِ فِيْ مَعْصِيَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

ددے په اوریدو زهٔ د عبد اللهؓ خوا له لاړم. او هغوی ته مے اووے. زهٔ تاسو له په الله قسم درکوم چه تاسو دا د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی؟ هغوی د خپل زړهٔ او غوږونو طرفته اشاره اوکړه په لاس سره. او اوئے وئیل څما غوږونو اوریدلی دی او زړهٔ مے یاد ساتلی دی. ما ورته اووے ستاد تره خوئ معاویه مونږ ته د یو بل د مال په ناحقه خوړلو حکم کوی. او دخپلو روحونو د تباه کولو دپاره. او الله تعالی فرمائیلی دی اے مؤمنانو! مهٔ خورئ خپل مال په ناحقه مګر په رضا سره په تجارت کولو او مهٔ وژنئ خپلو ځانونو لره بیشکه الله تعالی په تاسو باندے مهربانه دے. ددے په اوریدو عبد الله بن عمرو بن العاصؓ لږ ساعت غلے شو او بیائے اووے. د معاویهؓ اطاعت کوئ په هغه کار کښں چه د الله د حکم موافق وی. او کوم چه د الله د حکم نه خلاف وی په هغے کښں د معاویهؓ وینا مهٔ منئ.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د اعمش نه په دغه اسناد سره هم دغسے مضمون مروی دے.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ رَبِّ الْكَعْبَةِ الصَّائِدِيِّ قَالَ رَأَيْتُ جَمَاعَةً عِنْدَ الْكَعْبَةِ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيْثِ الْأَعْمَشِ

د عبد الرحمٰن بن عبد رب کعبه صائدیؒ نه روایت دے چه ما یو ټولګے د کعبے په خوا کښں اولیدهٔ. بیائے د اعمش د حدیث پشان ذکر کړو.

بَابُ الْأَمْرِ بِالصَّبْرِ عِنْدَ ظُلْمِ الْوُلَاةِ وَاسْتِئْثَارِهِمْ

باب: د حاکمانو د ظلم او د بے ځایه ترجیح باندے د صبر کولو بیان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ خَلَا بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَا تَسْتَعْمِلُنِيْ كَمَا اسْتَعْمَلْتَ فُلَانًا فَقَالَ إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِيْ أَثَرَةً فَاصْبِرُوْا حَتّٰى تَلْقَوْنِيْ عَلَى الْحَوْضِ

انس بن مالکؓ د اُسید بن حضیرؓ نه روایت کړے دے چه د انصارو یو سړے خلوت شو رسول اللهﷺ ته ئے اووے ما حاکم کړه. څنګه چه تاسو فلانی سړی لره حکومت ورکړے دے. حضرتﷺ اوفرمائیل څما نه روستو به ستاسو حق تلفی کیږی. ته صبر کوه ترد ے پورے چه څما سره میلاؤ شے په حوض کوثر باندے.

عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ خَلَا بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

د أسید بن حضیرؓ نه روایت دے چه یو انصاری سړی رسول اللهﷺ ته په خانله والی کښې اووے د پورتنی حدیث په مثل.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَقُلْ خَلَا بِرَسُولِ اللهِ ﷺ

د شعبه په دغه اسناد سره روایت دے مګر په دے کښې د خانله کیدو ذکر نشته

عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ الْحَضْرَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَأَلَ سَلَمَةُ بْنُ يَزِيدَ الْجُعْفِيُّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قَامَتْ عَلَيْنَا أُمَرَاءُ يَسْأَلُونَا حَقَّهُمْ وَيَمْنَعُونَا حَقَّنَا فَمَا تَأْمُرُنَا فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ سَأَلَهُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ سَأَلَهُ فِي الثَّانِيَةِ أَوْ فِي الثَّالِثَةِ فَجَذَبَهُ الْأَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ وَقَالَ اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوا وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ

د علقمه بن وائل حضرمیؓ نه روایت دے هغوی د خپل پلار نه اوریدلی دی وائی چه سلمٰی بن یزید جعفیؓ د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو. اے د الله نبیؐ! کچرے زمونږ امیر داسے مقرر شی چه هغه خپل حق زمونږ نه طلب کوی او زمونږ حق نۀ راکوی. نو تاسو مونږ ته څۀ فرمایئ؛ حضرتﷺ جواب ورنۀ کړو. بیائے تپوس اوکړو. بیائے جواب ور نۀ کړو. بیائے تپوس اوکړو نو اشعث بن قیس سلمه لره راښکودو او اوئے فرمائیل. اوره او اطاعت کوه په هغوی باندے د هغوی د عملونو بوج دے. او په تاسو باندے ستاسو د عملونو.

عَنْ سِمَاكٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ فَجَذَبَهُ الْأَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوا وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ

د سماك نه په دغه اسناد سره هم دغسے حدیث مروی دے او په دے کښې دادی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل. اوریئ او اطاعت کوئ خکه چه د هغوی د هغوی سره دی او ستاسو عملونه به ستاسو سره وی.

بَابُ وُجُوبِ مُلَازَمَةِ جَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ عِنْدَ ظُهُورِ الْفِتَنِ وَفِي كُلِّ حَالٍ

باب : د فتنے او د فساد په وخت بلکه هر وخت د مسلمانانو د جماعت سره اوسیدل

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ يَقُولُ كَانَ النَّاسُ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَيْرِ وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ مَخَافَةَ أَنْ يُدْرِكَنِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا كُنَّا فِي جَاهِلِيَّةٍ وَشَرٍّ فَجَاءَنَا اللهُ بِهٰذَا الْخَيْرِ فَهَلْ

د حذیفه بن الیمانؓ نه روایت دے وائی چه خلقو به د رسول اللهﷺ نه د نیکو خبرو تپوسونه کول. او ما به د بدے خبرے تپوس کولو د دے ویرے نه چه چرے په بدئ کښې اخته نۀ شم. ما عرض اوکړو یا رسول اللهؐ! مونږ په جاهلیت کښې او بدئ کښې وو. بیا الله تعالیٰ مونږ ته دا عزت راکړو (یعنی اسلام) اوس د دے نه پس څۀ بدئ شته

بعد هذا الخير شر قال نعم فقلت هل بعد ذلك الشر من خير قال نعم وفيه دخن قلت وما دخنه قال قوم يستنون بغير سنتي ويهدون بغير هديي تعرف منهم وتنكر فقلت هل بعد ذلك الخير من شر قال نعم دعاة على أبواب جهنم من أجابهم إليها قذفوه فيها فقلت يا رسول الله صفهم لنا قال نعم قوم من جلدتنا ويتكلمون بألسنتنا قلت يا رسول الله فما ترى إن أدركني ذلك قال تلزم جماعة المسلمين وإمامهم فقلت فإن لم تكن لهم جماعة ولا إمام قال فاعتزل تلك الفرق كلها ولو أن تعض على أصل شجرة حتى يدركك الموت وأنت على ذلك

حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. لیکن په هغې کښې دهبه (داغ) ده. ما اووے دهبه څهٔ ده؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل داسې خلق به وی چه ځما په سنتو باندې به نهٔ خلیږی. او ځما د طریقې نه علاوه به په بله لاره روان وی. په هغوی کښې به ښې خبرې هم وی او بدې هم. ما عرض اوکړو بیا به ددغې نه پس بدئ وی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل آو داسې خلق به پیدا شی چه هغه به د جهنم د دروازې په طرف خلقو لره راغواړی. څوك چه د هغوی خبره منی هغه به جهنم ته غورځیږی. ما اووے یا رسول الله! د هغه خلقو بیان مونږ ته اوفرمایئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل د هغوی رنګ به زمونږ په شان وی او هم زمونږه ژبه به وائی. ما عرض اوکړو یا رسول الله! کچرې دغه زمانه زهٔ اومومم نو څهٔ به کوم. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل د مسلمانانو د جماعت سره اوسیږه. او د هغوی د امام سره اوسیږه. کچرې جماعت او امام نهٔ وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو ټولې فرقې پریږده. او اګر چه د یوې اونې زیله په غاښونو سره اوژوئې د مرګه پورې[1]

عن حذيفة بن اليمان قلت يا رسول الله إنا كنا بشر فجاء الله بخير فنحن فيه فهل من وراء هذا الخير شر قال نعم قلت هل وراء ذلك الشر خير قال نعم قلت فهل

د حذیفه بن الیمان نه روایت دے ما عرض اوکړو یا رسول الله! مونږ په بدئ کښې وو بیا الله تعالی نیکی راکړه اوس ددې نه پس څهٔ بدی شته حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. ما اووے بیا د هغې نه پس نیکی شته؟ حضرت ﷺ راته اوفرمائیل آو. ما اووے بیا د هغې نه پس بدی شته

[1] یعنی خنګل ته لاړ شه او که څهٔ د خوراك درته نهٔ میلاویږی نو د اونې زیله ژوه او بیا د هغه بے دینو سره مهٔ میلاویږه او خانله جدا ترے اوسیږه. په دے حدیث کښې حضرت ﷺ لویه پیشن ګوئی د خوارجو او قرامطؤ وغیره کړے ده. چه هغه ګمراه فرقه د محمد ﷺ نه پس پیدا شوه. او د نیکئ نه چه په هغې کښې ذکر ده. بعضو ویلی دی د عمر بن عبد العزیز زمانه مراد ده. او ما د یو متدین محدث نه اوریدلی دی چه دغه زمانه د بنو اُمیه و خلافت نه پس راغلے وه. په دے کښې اګر چه نیکی وه خو بدعات پکښې خوارهٔ شوی وو. د هغې نه پس د ښکاره بدئ زمانه اوس ده ځکه چه نیچریت او بے دینی ښکاره باره کفر خوریږی. او د جهنم په طرف راغوښتونکی هغه خلق دی چه د سید احمد خان ابو النیاچره پیروکار او د هغوی په لاره باندې تلونکی دی. په دغه وخت کښې د اسلام د جماعت سره ملګرتیا هر مسلمان له ضروری دی. او ددغه بے دینو عقلمندو نه خاتته اوسیدل والله اعلم

وَرَاءَ ذٰلِكَ الْخَيْرِ شَرٌّ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ كَيْفَ قَالَ يَكُونُ بَعْدِي أَئِمَّةٌ لَا يَهْتَدُونَ بِهُدَايَ وَلَا يَسْتَنُّونَ بِسُنَّتِي وَسَيَقُومُ فِيهِمْ رِجَالٌ قُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الشَّيَاطِينِ فِي جُثْمَانِ إِنْسٍ قَالَ قُلْتُ كَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ أَدْرَكْتُ ذٰلِكَ قَالَ تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلْأَمِيرِ وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ وَأُخِذَ مَالُكَ فَاسْمَعْ وَأَطِعْ

حضرت ﷺ اوفرمائيل آو. ما اووے څنګه حضرت ﷺ اوفرمائيل خما نه پس به هغه خلق حاکمان شي چه هغه به خما په لاره نه چليږي او خما په سنتو به عمل نه کوي. او په هغوي کښې به داسے خلق وي چه د هغوي زړه به د شيطان غوندے او بدن به ئے د بنيادمو غوندے وي. ما عرض اوکړو يا رسول الله په دغه وخت کښې به زۀ څۀ کوم؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل کچرے په تا داسے زمانه راغله نو اوره او منه د حاکم خبرے لره. اګر کۀ هغه ستا ملا وهي او ستا مال اخلي خو بيا هم د هغۀ خبره اوره څه او د هغۀ حکم منونکے اوسه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ أَوْ يَدْعُو إِلَى عَصَبَةٍ أَوْ يَنْصُرُ عَصَبَةً فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ وَمَنْ خَرَجَ عَلَى أُمَّتِي يَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا وَلَا يَتَحَاشَى مِنْ مُؤْمِنِهَا وَلَا يَفِي لِذِي عَهْدٍ عَهْدَهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. کوم سړے چه د حاکم د اطاعت نه بهر شي او د جماعت ملګرتيا پريږدي او بيا هغه مړ شي نو د هغۀ مرګ به د جاهليت غوندے وي. او کوم سړے چه د ړندے جهنډے لاندے جنګيږي (د کوم جنګ چه صحيح والے په شريعت سره صفا صفا ثابت نۀ وي غصه وي د قوم د لحاظ نه يا بللے وي د قوم د طرفنه يا مدد کوي د قوم او د الله رضامندي ئے مقصود نۀ وي) بيا دغه مړ شي نو د هغۀ مرګ به د جاهليت د زمانے په شان وي. او کوم سړے چه خما په امت باندے لاس پورته کړي او نيکانو او بدانو لره د هغوي نه قتل کړي. او مؤمن هم پرينږدي او د کومو سره چه وعده شوے وي د هغوي وعده پوره نۀ کړي نو هغه خما سره تعلق نۀ لري او زۀ د هغۀ سره تعلق نۀ لرم (يعني هغه مسلمان نۀ دے)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِنَحْوِ حَدِيثِ جَرِيرٍ وَقَالَ لَا يَتَحَاشُ مِنْ مُؤْمِنِهَا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي څنګه چه د جرير (راوي) په حديث کښې دي. او اوئے فرمائيل هغه به د مؤمن د قتل نه ډډه نۀ کوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. کوم سړے چه

اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ ثُمَّ مَاتَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً وَمَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ يَغْضَبُ لِلْعَصَبَةِ وَيُقَاتِلُ لِلْعَصَبَةِ فَلَيْسَ مِنْ أُمَّتِي وَمَنْ خَرَجَ مِنْ أُمَّتِي عَلَى أُمَّتِي يَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا لاَ يَتَحَاشَ مِنْ مُؤْمِنِهَا وَلاَ يَفِي بِذِي عَهْدِهَا فَلَيْسَ مِنِّي

د اطاعت نه اووځی او جماعت پریږدی. بیا مړ شی نو د هغهٔ به مرګ د جاهلیت پشان وی. او څوک چه د ړندے جهنډے دلاندے او وژلے شی چه هغه د قوم د طرفنه غصه شوے وی او د قوم په خیال سره جنګیږی هغه خما د امت نهٔ دے. او چه خما په امت پسے د وهلو دپاره رااووځی. او د هغوی نیکانو او بدانو او مؤمنانو لره هم پرینږدی د کومو سره چه وعده شوے وی. هغه هم پوره نهٔ کړی. نو هغه خما د امت نهٔ دے.

عَنْ غَيْلاَنَ بْنِ جَرِيرٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ أَمَّا ابْنُ الْمُثَنَّى فَلَمْ يَذْكُرِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَدِيثِ وَأَمَّا ابْنُ بَشَّارٍ فَقَالَ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

د غیلان بن جریر نه په دغه اسناد سره روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل . کوم سړے چه په خپل حاکم کښې څهٔ بده خبره اووینی هغه دِ صبر کوی. ځکه چه څوک د بادشاه نه یو لویشت په مقدار جدا وی بیا مړ شی په دے حال کښې ددهٔ مرګ د جاهلیت د مرګ پشان به وی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَرْوِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَأَى مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلْيَصْبِرْ فَإِنَّهُ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَمَاتَ فَمِيتَةٌ جَاهِلِيَّةٌ

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه د خپل حاکم نه بده خبره اووینی هغه دِ صبر اوکړی ځکه چه څوک د جماعت نه یو لویشت قدرے جدا شی نو د هغهٔ مرګ به د جاهلیت مرګ وی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَرِهَ مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا فَلْيَصْبِرْ عَلَيْهِ فَإِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ خَرَجَ مِنَ السُّلْطَانِ شِبْرًا فَمَاتَ عَلَيْهِ إِلاَّ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. کوم انسان چه د خپل حاکم نه بده خبره اووینی هغه دِ صبر کوی ځکه چه څوک د خپل بادشاه نه د یو لویشت په مقدار جدا شی او بیا مړ شی په دغه حال د هغهٔ مرګ به د جاهلیت په شان مرګ وی.

عَنْ جُنْدَبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ يَدْعُو عَصَبِيَّةً أَوْ يَنْصُرُ

د جندب بن عبد الله بجلی رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. کوم انسان چه د ړندے جهنډے دلاندے قتل کړے شی. او هغه د تعصب او قومی طرفدارئ په طرف رابللے شوے وی یا د قوم

عَصَبِيَّةً فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ

تعصب مدد کوی نو د هغهٔ قتل به د جاهلیت د هغې پشان وی

عَنْ نَافِعٍ قَالَ جَاءَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ مُطِيعٍ حِينَ كَانَ مِنْ أَمْرِ الْحَرَّةِ مَا كَانَ زَمَنَ يَزِيدَ بْنِ مُعَاوِيَةَ فَقَالَ اطْرَحُوا لِأَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وِسَادَةً فَقَالَ إِنِّي لَمْ آتِكَ لِأَجْلِسَ أَتَيْتُكَ لِأُحَدِّثَكَ حَدِيثًا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهُ مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا حُجَّةَ لَهُ وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً

د نافع نه روایت دے وائی چه عبد الله بن عمرؓ د عبدالله بن مطیعؓ خواله راغے. هر کله چه د حره واقعه د یزید بن معاویه په زماه کښې اوشوه. (هغه په مدینه منوره باندے لښکر اولیږو او مدینے والا په حرّه کښې (چه د مدینے سره په خواه کښې یو مقام دے) قتل شو او قسم قسم ظلم په دمدینے والاؤ باندے اوشو. عبد الله بن مطیع اووے د ابو عبد الرحمٰن دا کنیت دے دعبد الله بن عمرؓ) دپاره توشك خور کړو. هغوی اووے زهٔ دد دے دپاره نه یم راغلے چه کېښنم بلکه تاسو ته د یو حدیث اورولو دپاره راغلم چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلے دے. حضرتﷺ فرمائیلی وو څوك چه خپل لاسونه د اطاعت نه اوباسی هغه به د قیامت په ورځ د اللهؑ سره میلاویږی او څهٔ دلیل به د هغهٔ سره نهٔ وی. او کوم سړے چه مړ شی او د هیچا نه هغه بیعت نهٔ وی کړے. نو د هغهٔ مرګ به د جاهلیت غوندے وی[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ أَتَى ابْنَ مُطِيعٍ فَذَكَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ

د ابن عمرؓ نه روایت دے چه هغه د ابن مطیع خواله راغے نو د نبیﷺ نه هغسے حدیث روایت کړو څنګه چه پورته ذکر شو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمَعْنَى حَدِيثِ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ

د ابن عمرؓ نه د نبی کریمﷺ نه دغسے حدیث مروی دے. څنګه چه نافعؒ د ابن عمرؓ نه روایت کړو.

بَابُ حُكْمِ مَنْ فَرَّقَ أَمْرَ الْمُسْلِمِينَ وَهُوَ مُجْتَمِعٌ

باب: کوم سړے چه د مسلمانانو په اتفاق کښې خلل غورځوی، د هغهٔ حکم

عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى

د عرفجهؓ نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه

[1] دد دے حدیث نه معلومه شوه چه په مسلمانانو باندے د امام مقرر کول واجب دی او بغیر د امام نه اوسیدل ښهٔ نهٔ دی. ورنه مرګ به د جاهلیت مرګ وی. پس د خپلے خاتمے پخیر کولو دپاره او ددغه وعید نه د بچ کیدو دپاره هر څوك چه وی خو چه د امام والی مستحق وی امام مقرر کړی. او د هغهٔ نه د بیعت اوکړی.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّهُ سَتَكُوْنُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ أَمْرَ هٰذِهِ الْأُمَّةِ وَهِيَ جَمِيعٌ فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ

چه فرمائیل ئې. بېرته دی فتنې او فسادونه. پس هر هغه څوك چه دد ے امت اتفاق ورانول اوغواړی. نو هغهٔ له په توره سره اووهئ هغه که هر څوك چه وی[1]

عَنْ عَرْفَجَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِهِمْ جَمِيعًا فَاقْتُلُوهُ

عرفجه د نبی ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے مګر دد ے روایت د ټولو راویانو په حدیث کښې دی چه دهٔ لره قتل کړئ

عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلٰى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ

د عرفجه نه روایت دے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. حضرت ﷺ فرمائیل کوم سړے چه ستا خواله راشی او تاسو ټول په یو سړی راجمع یې هغه په تاسو کښې دشمنی او جدائی غواړی نو هغهٔ لره قتل کړئ

بَابُ إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ

باب: هر کله چه د دوؤ خلیفه ګانو سره بیعت وی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا

دحضرت ابوسعید نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل هر کله چه د دوؤ خلیفه ګانو سره بیعت اوکړے شی نو د کوم سره چه په آخر کښې بیعت شوے وی هغه لره قتل کړئ (ځکه چه د هغهٔ خلافت د رومبی خلیفه په موجودګئ کښې باطل دے)

بَابُ وُجُوبِ الْإِنْكَارِ عَلَى الْأُمَرَاءِ فِيمَا يُخَالِفُ الشَّرْعَ

باب: اګر امیر د شرع خلاف څهٔ کار اوکړی نو هغهٔ لره منع کول واجب دی

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَتَكُوْنُ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُوْنَ وَتُنْكِرُوْنَ فَمَنْ عَرَفَ بَرِئَ وَمَنْ أَنْكَرَ سَلِمَ وَلٰكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ قَالُوا أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ قَالَ لَا مَا صَلَّوْا

د ام المؤمنین ام سلمه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل بېرته ده چه پتاسو باندے امیر مقرر شی. تاسو به د هغوی ښهٔ کارونه هم اووینئ او بد هم پس چا چه یو بدکار لره اوپیژندو هغه بری شو (کچرے هغهٔ لره منع کړی په لاس یا ژبه یا زړهٔ سره) او چا چه بدکار لره بد اوګڼړو هغه هم بچ شو. لیکن څوك چه په بد کار راضی شو او د هغهٔ

---

[1] کچرے هغه قلار نهٔ شو د خپل کار نه په پوهه کولو سره نو د هغهٔ وینه مباح ده.

تابعداري ئې اوکړه (هغه تباه شو) صحابه کرامو عرض اوکړو یا رسول الله! مونږ دداسې امیرانو سره جنګ او نه کړو؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل نه د کومې پورې چه هغه مونځ ادا کوي. (او کچرې مونځ هم پرېږدي نو هغه قتل کړئ او د امارت نه ئې معزول کړئ)

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّهُ يُسْتَعْمَلُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ فَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ بَرِئَ وَمَنْ أَنْكَرَ فَقَدْ سَلِمَ وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا نُقَاتِلُهُمْ قَالَ لَا مَا صَلَّوْا أَيْ مَنْ كَرِهَ بِقَلْبِهِ وَأَنْكَرَ بِقَلْبِهِ

د أم سلمه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. پتاسو باندې به داسې امیران مقرر کیږي چه د هغوی به تاسو ښۀ کارونه هم اوګورئ او بد هم پس هر هغه څوك چه د هغۀ بد کار لره بد اوګنړي هغه د ګناه نه بچ شو. او چا چه ورته بد اووے هغه هم بچ شو. لیکن څوك چه پرې راضي شو او د هغۀ تابعداري ئې اوکړه (هغه تباه شو) خلقو عرض اوکړو یا رسول الله! مونږ به د هغۀ سره جنګ کوو؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل. نه د کومې پورې چه هغه مونځ ادا کوي (بد ئې ورته اووے یعنې په زړۀ کښې ئې ورته بد اووے او په زړۀ سره ئې بد اوګنړو اګر که په ژبه سره نۀ شي وئیلې.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ ذٰلِكَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَمَنْ أَنْكَرَ فَقَدْ بَرِئَ وَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ سَلِمَ

ام سلمه د رسول الله ﷺ نه دغسې حدیث روایت کړے دے مګر په دې کښې دادي چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چا چه منع کړو نو هغه بري الذمه شو او چا چه په زړۀ کښې بد اوګنړو هغه بچ شو.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ إِلَّا قَوْلَهُ وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ لَمْ يَذْكُرْهُ

د ام سلمه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلي دي مخکښې د پورتنی حدیث پشان حدیث بیان کړو سوا دد دے نه چه: لیکن څوك چه راضي شو او تابعداري ئې اوکړه. چه دا ذکر ئې اونکړو.

بَابُ خِيَارِ الْأَئِمَّةِ وَشِرَارِهِمْ

باب: د ښو او بدو حاکمانو بیان

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خِيَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ

د عوف بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي غوره حاکمان ستاسو هغه دي کوم چه تاسو غواړئ او هغه تاسو غواړي. هغه ستاسو دپاره دعا کوي او تاسو د هغوی دپاره دُعا کوئ. او بد حاکمان ستاسو هغه دي چه هغه ستاسو دشمنان دي او تاسو د هغوی دشمنان

تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلَا نُنَابِذُهُمْ بِالسَّيْفِ فَقَالَ لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلَاةَ وَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْ وُلَاتِكُمْ شَيْئًا تَكْرَهُونَهُ فَاكْرَهُوا عَمَلَهُ وَلَا تَنْزِعُوا يَدًا مِنْ طَاعَةٍ

يې؛ تاسو په هغوی باندے لعنت کوئ او هغه په تاسو باندے لعنت کوی خلقو عرض اوکړو یا رسول اللهؐ مونږ به داسے بد حاکمان په توره سره نه دفع کوو؟ حضرتؐ ورته اوفرمائیل چه نه د کومے پورے چه هغه مونځ پتاسو کښې قائموی. او هر کله چه تاسو څۀ خبره حاکمانو کښې اوګورئ نو په زړۀ سره هغه بد ګڼړئ لیکن د هغوی د اطاعت نه بهر نۀ شئ؛ (یعنی بغاوت مۀ کوئ)

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خِيَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ قَالُوا قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلَا نُنَابِذُهُمْ عِنْدَ ذَلِكَ قَالَ لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلَاةَ لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلَاةَ أَلَا مَنْ وَلِيَ عَلَيْهِ وَالٍ فَرَآهُ يَأْتِي شَيْئًا مِنْ مَعْصِيَةِ اللهِ فَلْيَكْرَهْ مَا يَأْتِي مِنْ مَعْصِيَةِ اللهِ وَلَا يَنْزِعَنَّ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ قَالَ ابْنُ جَابِرٍ فَقُلْتُ يَعْنِي لِرُزَيْقٍ حِينَ حَدَّثَنِي بِهَذَا الْحَدِيثِ آللهِ يَا أَبَا الْمِقْدَامِ لَحَدَّثَكَ بِهَذَا أَوْ سَمِعْتَ هَذَا مِنْ مُسْلِمِ بْنِ قَرَظَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ عَوْفًا يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَثَا عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَقَالَ إِي وَاللهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ لَسَمِعْتُهُ مِنْ مُسْلِمِ بْنِ قَرَظَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ عَوْفَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ سَمِعْتُ

د عوف بن مالکؓ نه روایت دے وائی چه ما د رسول اللهؐ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. ښۀ حاکمان ستاسو هغه دی چه هغوی لره تاسو غواړئ او هغوی تاسو لره غواړی. تاسو د هغوی دپاره دُعا کوئ او هغه ستاسو دپاره دُعا کوی. او بد حاکمان ستاسو هغه دی چه هغه ستاسو دشمنان دی او تاسو د هغوی دشمنان یئ؛ تاسو په هغوی باندے لعنت کوئ او هغوی په تاسو باندے لعنت کوی. خلقو عرض اوکړو یا رسول اللهؐ داسے بد حاکم لره مونږ لرے نۀ کړو. حضرتؐ اوفرمائیل نه د کومے پورے چه پتاسو څوك یو حاکم لره د ګناه په خبره کولو اووینی نو هغه خبره د بده اوګڼړی او د هغۀ د اطاعت نه د بهر کیږی نه ابن جابرؒ وائی چه ما رزیق بن حیان ته اووے هر کله چه هغوی دا حدیث بیان کړو. چه اے ابوالمقدام تا ته مسلم بن قرظه دا حدیث بیان کړے دے هغه وائی چه ما د عوف نه اوریدلے دے او هغه وائی چه ما د رسول اللهؐ نه اوریدلے دے. ددے په اوریدو رزیق د زنګونانو په سر کیښناستو او قبلے طرفته ئے مخ کړو او اوئے وئیل بیشکه قسم دے په هغه الله چه د هغۀ نه سوا بل معبود نشته چه ما دا حدیث د مسلم بن قرظه نه اوریدلے دے هغه وئیل چه ما د عوف بن مالکؓ نه

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوریدلے دے او هغوی وئیل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے.

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

عوف بن مالك د نبی ﷺ نه هغسے حدیث روایت کړے دے (څنګه چه پورته تیر شو)

بَاب اسْتِحْبَابِ مُبَايَعَةِ الْإِمَامِ الْجَيْشَ عِنْدَ إِرَادَةِ الْقِتَالِ

باب: د جنګ په وخت د امام د مجاهدینو نه بیعت اخستل مستحب دی

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ أَلْفًا وَأَرْبَعَ مِائَةً فَبَايَعْنَاهُ وَعُمَرُ آخِذٌ بِيَدِهِ تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَهِيَ سَمُرَةٌ وَقَالَ بَايَعْنَاهُ عَلَى أَنْ لَا نَفِرَّ وَلَمْ نُبَايِعْهُ عَلَى الْمَوْتِ

د جابر نه روایت دے وائی چه مونږ د حدیبیه په ورځ یو زر څلور سوه سړی وو نو مونږ بیعت اوکړو د رسول الله ﷺ نه او حضرت عمر د رضوان د اونې لاندے د حضرت ﷺ لاس نیولے وو او هغه د سمره اونه وه. (سمره (د کیکر اونه عارف) یو ځنګلی اونه ده چه په ریګستان کښ کیږی) او مونږ بیعت اوکړو د حضرت ﷺ سره په دے شرط باندے چه نه به تښتو او دا بیعت مو او نه کړو چه تر مرګه پورے.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمْ نُبَايِعْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمَوْتِ إِنَّمَا بَايَعْنَاهُ عَلَى أَنْ لَا نَفِرَّ

د جابر نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ نه په مرګ باندے بیعت نه وو کړے. بلکه په نه تښتیدو باندے مو کړے وو.

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ سَمِعَ جَابِرًا يُسْأَلُ كَمْ كَانُوا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ قَالَ كُنَّا أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً فَبَايَعْنَاهُ وَعُمَرُ آخِذٌ بِيَدِهِ تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَهِيَ سَمُرَةٌ فَبَايَعْنَاهُ غَيْرَ جَدِّ بْنِ قَيْسٍ الْأَنْصَارِيِّ اخْتَبَأَ تَحْتَ بَطْنِ بَعِيرِهِ

د ابوالزبیر نه روایت دے چه هغوی د جابر نه اوریدلی دی د هغوی نه تپوس اوکړے شو چه د حدیبیے په ورځ څومره سړی وو. هغوی اووے مونږ څوارلس سوه سړی وو نو مونږ د حضرت ﷺ نه بیعت اوکړو او حضرت عمر د سمره اونې لاندے د حضرت ﷺ لاس نیولے وو. بیا مونږ ټولو د حضرت ﷺ نه بیعت اوکړو مګر جد بن قیس انصاری بیعت او نه کړو هغه د خپل اوښ د ګیډے لاندے پټ شو.

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا يُسْأَلُ هَلْ بَايَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ فَقَالَ لَا وَلَكِنْ صَلَّى بِهَا وَلَمْ يُبَايِعْ عِنْدَ شَجَرَةٍ إِلَّا الشَّجَرَةَ الَّتِي بِالْحُدَيْبِيَةِ

ابو الزبیر د جابر نه اوریدلی دی چه د هغوی نه تپوس اوشو چه آیا رسول الله ﷺ بیعت اخستے وو په ذوالحلیفه کښ؟ هغوی اووے نه لیکن حضرت ﷺ هلته مونځ کړے وو. او د بلے یوے اونې په خواه کښ ئے بیعت نه دے اخستے مګر د حدیبیے د اونې په خواه کښ ابن

قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ وَأَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بِئْرِ الْحُدَيْبِيَةِ

جریج وائی ما ته ابوالزبیر بیان کړے دے او هغوی اوریدلی دی د جابر نه چه رسول الله ﷺ دُعا اوکړه د حدیبیې په کوهی باندے (د هغے اوبۀ زیاتے شوے. او دا قصه پورته تیره شوے ده)

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ أَلْفًا وَأَرْبَعَ مِائَةٍ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتُمُ الْيَوْمَ خَيْرُ أَهْلِ الْأَرْضِ وَقَالَ جَابِرٌ لَوْ كُنْتُ أُبْصِرُ لَأَرَيْتُكُمْ مَوْضِعَ الشَّجَرَةِ .

د حضرت جابر نه روایت دے وائی چه مونږ د حدیبیې په ورځ څوارلس سوه سړی وو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل . نن ورځ تاسو د تولے زمکے والاؤ نه غوره یئ. او جابر اووے کچرے څما نظر وے نو ما به تاسو ته د هغه اونے ځائے ښودلے وے[1].

عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ قَالَ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ فَقَالَ لَوْ كُنَّا مِائَةَ أَلْفٍ لَكَفَانَا كُنَّا أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةٍ

د سالم بن ابی الجعد نه روایت دے وائی چه ما د جابر بن عبد الله نه تپوس اوکړو چه اصحاب شجره څو تنه وو. هغوی اووے کچرے زمونږ یو لاکھ کسان وے بیا به هم مونږ ته د هغه ځائی کوهی پوره وو. (ځکه چه دحضرت ﷺ په دعا سره د هغے اوبۀ ډیرے زیاتے شوے وے) او مونږه پنځلس سوه سړی وو.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَوْ كُنَّا مِائَةَ أَلْفٍ لَكَفَانَا كُنَّا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً

د حضرت جابر نه روایت دے هغوی وائی کچرے مونږ یو لاکھ هم وے نو مونږ ته به دد ے کوهی اوبۀ کافی کیدے. مونږ پنځلس سوه وو.

عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ قَالَ قُلْتُ لِجَابِرٍ كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ قَالَ أَلْفًا وَأَرْبَعَ مِائَةٍ

د سالم بن ابی الجعد اوئیل ما د جابر نه تپوس اوکړو چه تاسو څومره سړی وئ په هغه ورځ. هغوی اووے څوارلس سوه سړی وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ كَانَ أَصْحَابُ الشَّجَرَةِ أَلْفًا وَثَلَاثَ مِائَةٍ وَكَانَتْ أَسْلَمُ ثُمُنَ الْمُهَاجِرِينَ

د عبدالله بن ابی اوفی نه روایت دے چه اصحاب شجره دیارلس سوه سړی وو او د اسلم خلق د مهاجرینو اتمه حصه و.

عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُنِي يَوْمَ الشَّجَرَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَايِعُ النَّاسَ وَأَنَا رَافِعٌ غُصْنًا مِنْ أَغْصَانِهَا عَنْ

د معقل بن یسار نه روایت دے چه ما خپل ځان لره د شجره په ورځ اولیدۀ. او رسول الله ﷺ بیعت اخستلو د خلقو نه. او ما یوه ځانګه د اونې د هغوی د سر دپاسه نولیلے وه. مونږ څوارلس سوه سړی وو او د

[1] ځکه چه هغه اونه باقی پاتے نه وه. هغے لره حضرت عمر پریکړے وه. هر کله چه نے دا واوریدل چه خلق دد ے نه خوا ته راجمع کیږی

رَأْسِهِ وَنَحْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً قَالَ لَمْ نُبَايِعْهُ عَلَى الْمَوْتِ وَلٰكِنْ بَايَعْنَاهُ عَلَى أَنْ لَا نَفِرَّ

مونږ د حضرت ﷺ نه بیعت نه وو کړې په مرګ باندې بلکه په نه تښتیدو مو بیعت کړې وو.

عَنْ يُونُسَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د یونس نه په دغه اسناد سره دغسې روایت دې.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ كَانَ أَبِي مِمَّنْ بَايَعَ رَسُولَ اللهِ ﷺ عِنْدَ الشَّجَرَةِ قَالَ فَانْطَلَقْنَا فِي قَابِلٍ حَاجِّينَ فَخَفِيَ عَلَيْنَا مَكَانُهَا فَإِنْ كَانَتْ تَبَيَّنَتْ لَكُمْ فَأَنْتُمْ أَعْلَمُ

د سعید بن مسیب نه روایت دې وائی چه خما پلار د اونې په خواه کښې د رسول الله ﷺ نه بیعت کړې وو. هغوی وائی هر کله چه مونږ په دوباره حج له راغلو نو د هغه اونې ځائې هډو معلوم نه شو. کچرې تاته معلوم وی نو ته زیات خبردار ئې.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُمْ كَانُوا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الشَّجَرَةِ قَالَ فَنَسُوهَا مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ

سعید بن المسیب د خپل پلار نه روایت کړې دې هغه د رسول الله ﷺ سره وو د شجره په خواه کښې په کوم کال چه بیعت اوشو. بیا په دویم کال د صحابو کرامو نه هغه اونه هیره وه.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ الشَّجَرَةَ ثُمَّ أَتَيْتُهَا بَعْدُ فَلَمْ أَعْرِفْهَا

سعید بن مسیب د خپل پلار نه روایت کړې دې وائی چه ما شجره رضوان لیدلې وه لیکن بیا چه زۀ د هغې خواله راغلم نو اومې نه پیژنده [1].

عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ قُلْتُ لِسَلَمَةَ عَلَى أَيِّ شَيْءٍ بَايَعْتُمْ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ قَالَ عَلَى الْمَوْتِ

د یزید بن ابو عبیده نه روایت دې چه ما د سلمه نه تپوس اوکړو تاسو په کومه خبره د رسول الله ﷺ نه بیعت اوکړو. هغوی اووې په مرګ کیدو باندې.

عَنْ سَلَمَةَ بِمِثْلِهِ

د سلمهؓ نه دغسې حدیث مروی دې.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ أَتَاهُ آتٍ فَقَالَ هَا ذَاكَ ابْنُ حَنْظَلَةَ يُبَايِعُ النَّاسَ فَقَالَ عَلَى مَاذَا قَالَ عَلَى الْمَوْتِ قَالَ لَا أُبَايِعُ عَلَى هٰذَا أَحَدًا بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن زیدؓ نه روایت دې چه د هغوی خواله یو سړې راغې او وئې وئیل دا د حنظلهؓ ځوئ دې چه د خلقو نه په مرګ باندې بیعت اخلی. هغوی اووې زۀ داسې بیعت د هیچا سره کولو والا نه یم د رسول الله ﷺ نه پس [2].

---

[1] نوویؒ وئیلی دی د هغه اونې په ورکیدو کښې دا مصلحت وو چه ناپوهه خلق بیا د هغې عبادت شروع نه کړی. نو د هغې ورکیدل د الله تعالی رحمت دې.

[2] نوویؒ وائی په مرګ باندې بیعت کول یا په نه تختیدو باندې د دواړو مطلب یو دې. او په شروع اسلام کښې د لسو کافرانو د مقابلې نه تختیدل منع وو بیا الله تعالی آسانی اوکړه اوس د دوو کافرانو نه د یو مسلمان تختیدل منع دی دد ې نه زیات کچرې وی نو جائز دی.

بَابُ تَحْرِيمِ رُجُوعِ الْمُهَاجِرِ إِلَى اسْتِيطَانِ وَطَنِهِ

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى الْحَجَّاجِ فَقَالَ يَا ابْنَ الْأَكْوَعِ ارْتَدَدْتَ عَلَى عَقِبَيْكَ تَعَرَّبْتَ قَالَ لَا وَلَكِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذِنَ لِي فِي الْبَدْوِ

باب: کوم سړے چه د وطن نه هجرت اوکړی بیا هغۀ لره هلته راتلل وطن جوړول حرام دے (ترڅو چه فتنه نۀ وی ختم شوے)

د سلمه بن اکوع نه روایت دے چه هغوی د حجاج خواله لاړو. حجاج اووے اے د اکوع خویه تۀ مرتد شوے او په ځنګل کښې اوسیږے. سلمه اووے اووے نه بلکه رسول الله ﷺ ما ته په ځنګل کښې د اوسیدو اجازت راکړے دے[1].

بَابُ الْمُبَايَعَةِ بَعْدَ فَتْحِ مَكَّةَ عَلَى الْإِسْلَامِ وَالْجِهَادِ وَالْخَيْرِ وَبَيَانِ مَعْنَى لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ

باب: د مکې د فتح نه روستو په اسلام یا جهاد یا نیکئ باندے بیعت کیدل. او هغې نه روستو د هجرت د نۀ کیدو معنی

عَنْ مُجَاشِعِ بْنِ مَسْعُودٍ السُّلَمِيِّ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُبَايِعُهُ عَلَى الْهِجْرَةِ فَقَالَ إِنَّ الْهِجْرَةَ قَدْ مَضَتْ لِأَهْلِهَا وَلَكِنْ عَلَى الْإِسْلَامِ وَالْجِهَادِ وَالْخَيْرِ

د مجاشع بن مسعود سلمی نه روایت دے چه زۀ د رسول الله ﷺ خواله راغلم د هجرت بیعت کولو له. حضرت ﷺ اوفرمائیل. هجرت خو تیر شو د مهاجرینو دپاره. لیکن بیعت اوکړه په اسلام باندے یا په جهاد باندے یا په نیکئ کولو باندے.

عَنْ مُجَاشِعِ بْنِ مَسْعُودٍ السُّلَمِيِّ قَالَ جِئْتُ بِأَخِي أَبِي مَعْبَدٍ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الْفَتْحِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ بَايِعْهُ عَلَى الْهِجْرَةِ قَالَ قَدْ مَضَتِ الْهِجْرَةُ بِأَهْلِهَا قُلْتُ فَبِأَيِّ شَيْءٍ تُبَايِعُهُ

د مجاشع نه روایت دے چه ما خپل رور ابوسعید لره د رسول الله ﷺ خواله راوستۀ د مې د فتح کیدو نه پس. او ما اووے یا رسول الله ﷺ ددۀ نه بیعت واخلئ په هجرت باندے. حضرت ﷺ اوفرمائیل هجرت د مهاجرینو سره اوشو. ما اووے بیا په څۀ شی باندے تاسو بیعت اخلئ ددۀ نه حضرت ﷺ اوفرمائیل په اسلام باندے او په

---

[1] قاضی عیاض وائی علماؤ اتفاق کړے دے چه مهاجرو لره بیا خپل وطن ته واپس کیدل او هغې لره بیا خپل وطن جوړول حرام دی او ځکه خو حجاج اعتراض اوکړو په سلمه باندے. او سلمه جواب ورکړو چه زۀ د رسول الله ﷺ په اجازت سره داسې کوم او کیدے شی هغه خپل وطن ته واپس نۀ وی تلے. بلکه بل ځائے چرته په ځنګل کښې اوسیدلے وی دویم دا چه د هجرت نه چه څۀ غرض وو هغه د رسول الله ﷺ مدد وو او هغه د مکې په فتح کیدو سره ختم شو. اوس د هغې نه پس هجرت فرض نۀ وو په دغه وجه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د مکې د فتح نه پس هجرت نۀ دے پاتے. انتهی مختصراً

قَالَ عَلَى الإِسْلاَمِ وَالْجِهَادِ وَالْخَيْرِ قَالَ أَبُو عُثْمَانَ فَلَقِيتُ أَبَا مَعْبَدٍ فَأَخْبَرْتُهُ بِقَوْلِ مُجَاشِعٍ فَقَالَ صَدَقَ

جهاد باندے او په نیکئ باندے ابوعثمان وئیلی دی چه زهٔ د ابومعبد سره میلاؤ شوم او هغوی ته مے د مجاشع وینا بیان کړو هغوی اووے مجاشع رښتیا وائی.

عَنْ عَاصِمٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ قَالَ فَلَقِيتُ أَخَاهُ فَقَالَ صَدَقَ مُجَاشِعٌ وَلَمْ يَذْكُرْ أَبَا مَعْبَدٍ

د عاصم نه دغه اسناد سره روایت دے. وائی چه ما د هغهٔ د رور سره ملاقات اوکړو نو هغهٔ اووے چه مجاشع رښتیا وائی. او د ابومعبد نوم ئے وانهٔ خستهٔ.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ لاَ هِجْرَةَ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا

د عبد الله بن عباس نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل په کومه ورځ چه مکه فتح شوه اوس هجرت شته دے لیکن جهاد دے او نیک نیت دے. او هر کله چه تاسو ته اووئیلے شی جهاد ته د وتلو دپاره نو تاسو اوځئ د جهاد دپاره[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْهِجْرَةِ فَقَالَ لاَ هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا

د ام المؤمنین حضرت عائشے نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ نه د هجرت په باره کښې تپوس اوکړے شو. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د مکے د فتح کیدو نه پس هجرت پاتے نهٔ دے لیکن جهاد دے او نیت دے. او هر کله چه تاسو ته د جهاد د وتلو دپاره اووئیلے شی نو اوځئ.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ أَعْرَابِيًّا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْهِجْرَةِ فَقَالَ وَيْحَكَ إِنَّ شَأْنَ الْهِجْرَةِ لَشَدِيدٌ فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَهَلْ تُؤْتِي صَدَقَتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ الْبِحَارِ فَإِنَّ اللهَ لَنْ يَتِرَكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا

د حضرت ابوسعید خدری نه روایت دے وائی چه یو بانډه چی د رسول الله ﷺ نه د هجرت په باره کښې تپوس اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل. الله! هجرت ډیر مشکل دے (یعنی خپل وطن پریخودل او په مدینه کښې خما سره اوسیدل او دا حضرت ﷺ خکه او فرمائیل چه کچرے ددهٔ نه اونهٔ شی نو بیا به ورته هجرت ما تول پریوځی) ستا سره اوښان شته؟ هغهٔ اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل ته د سمندرونو نه د هغے د پورے ویستو عمل کوه. الله تعالی به ستا یو عمل لره نهٔ ضائع کوی.

---

[1] نووی وائی زمونږ ملګرو وئیلی دی چه هجرت د دارالحرب نه دار اسلام طرفته همیشه قائم دے د قیامته پورے. او د دے حدیث مطلب دا دے چه اوس د مکے نه هجرت پاتے نهٔ شو ځکه چه مکه دار اسلام شو د هغه درجے هجرت کوم چه د فتح مکے نه مخکښې وو اوس پاتے نهٔ شو نهٔ ئے اوس دومره ثواب شته.

عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ لَنْ يَتِرَكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ قَالَ فَهَلْ تَحْلُبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا قَالَ نَعَمْ

د اوزاعي نه په دغه اسناد سره دغسې روايت دے مگر په دے کښې دادي چه الله تعالى ستا يو عمل لره به نۀ پرېږدي. او دومره زياته ده چه آيا تۀ د هغوی پۀ لوشې هر کله چه هغوی د اوبو څښکلو ته راځي. هغۀ اووے آو.

بَاب كَيْفِيَّةِ بَيْعَةِ النِّسَاءِ

باب : ښځې به څنگه بيعت کوی

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَتِ الْمُؤْمِنَاتُ إِذَا هَاجَرْنَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُمْتَحَنَّ بِقَوْلِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَنْ أَقَرَّ بِهٰذَا مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ فَقَدْ أَقَرَّ بِالْمِحْنَةِ وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَقْرَرْنَ بِذٰلِكَ مِنْ قَوْلِهِنَّ قَالَ لَهُنَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْطَلِقْنَ فَقَدْ بَايَعْتُكُنَّ وَلَا وَاللّٰهِ مَا مَسَّتْ يَدُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ غَيْرَ أَنَّهُ يُبَايِعُهُنَّ بِالْكَلَامِ قَالَتْ عَائِشَةُ وَاللّٰهِ مَا أَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى النِّسَاءِ قَطُّ إِلَّا بِمَا أَمَرَهُ اللّٰهُ تَعَالَى وَمَا مَسَّتْ كَفُّ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ كَفَّ امْرَأَةٍ قَطُّ وَكَانَ يَقُولُ لَهُنَّ إِذَا أَخَذَ عَلَيْهِنَّ قَدْ بَايَعْتُكُنَّ كَلَامًا

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے وائي مسلمانانو ښځو چه به کله هجرت کولو نو حضرت ﷺ به د هغوی امتحان دد ے آيت موافق اخستلو: اے نبی هر کله چه تاته مسلمانانې ښځې د بيعت کولو دپاره راشي په دے خبره باندے چه نۀ به شريکوی د الله سره هيڅ لره. نۀ به غلا کوی او نۀ به زنا کوی. د آخره پورے. حضرت عائشه فرمائي نو چه هر کله به يوے ښځی دد ے خبرو اقرار اوکړو نو هغې به لکه چه د بيعت اقرار اوکړو. (يعنی بيعت به ئې اوشو) او د رسول الله ﷺ په مخکښې چه به ئې هرکله دغه اقرار اوکړو نو حضرت ﷺ به ورته اوفرمائيل ځه ما ستا نه بيعت واخستو په الله قسم دے چه د حضرت ﷺ لاس د يوے ښځې د لاس سره نۀ دے لگيدلے البته په ژبه سره به حضرت ﷺ د هغوی نه بيعت اخستو. حضرت عائشه ﷺ فرمائي چه رسول الله ﷺ د ښځو نه څۀ اقرار نۀ دے اخستلے مگر د کومے چه به الله تعالى حکم اوکړو او د حضرت ﷺ لاس ورسره چرته نۀ دے لگيدلے بلکه حضرت ﷺ به صرف په ژبه سره فرمائيل هر کله چه به هغوی اقرار اوکړو چه ما ستاسو نه بيعت اوکړو.[1]

[1] نووی وئيلی دی دد ے حديث نه دا معلومه شوه چه د ښځې نه صرف په ژبه سره بيعت اخستل پکار دی د هغوی لاس نيول صحيح نۀ دی او د سرو به لاس اونيسی او په ژبه به اقرار کوی او دا هم معلومه شوه چه د پردۍ ښځې سره دضرورت په وخت خبرے کول صحيح

عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ عَنْ بَيْعَةِ النِّسَاءِ قَالَتْ مَا مَسَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ امْرَأَةً قَطُّ إِلَّا أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهَا فَإِذَا أَخَذَ عَلَيْهَا فَأَعْطَتْهُ قَالَ اذْهَبِي فَقَدْ بَايَعْتُكِ

حضرت عائشے عروہ ته د ښځو د بیعت بیان وکړو نو اوئے وئیل چه د رسول الله ﷺ لاس د یوے ښځے سره نه دے لګیدلے. البته حضرت ﷺ به ژبه به ورسره خبرے کولے هر کله به چه هغے په ژبه قول ورکولو نو حضرت ﷺ به اوفرمائیل ځه ما ستا نه بیعت واخستۀ.

بَابُ الْبَيْعَةِ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِيمَا اسْتَطَاعَ

باب: بیعت کول په اوریدو او منلو باندے د کومے پورے چه کیدے شي

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ يَقُوْلُ كُنَّا نُبَايِعُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ يَقُوْلُ لَنَا فِيمَا اسْتَطَعْتَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه مونږ به د حضرت ﷺ نه بیعت کولو د خبرے په اوریدو او د حکم په منلو باندے. حضرت ﷺ به فرمائیل دا هم وایئ خومره چه زمونږ نه کیدے شي (دا د هغوی مینه ده په خپل امت باندے چه کوم کار ترے نۀشي کیدے د هغے په نه کولو ګنهګار نۀشي)

بَابُ بَيَانِ سِنِّ الْبُلُوْغِ

باب: سړے کله ځوان کیږي

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ عَرَضَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ فِي الْقِتَالِ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَلَمْ يُجِزْنِي وَعَرَضَنِي يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَنِي قَالَ نَافِعٌ فَقَدِمْتُ عَلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَهُوَ يَوْمَئِذٍ خَلِيفَةٌ فَحَدَّثْتُهُ هَذَا الْحَدِيثَ فَقَالَ إِنَّ هَذَا لَحَدٌّ بَيْنَ الصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ فَكَتَبَ إِلَى عُمَّالِهِ أَنْ يَفْرِضُوا لِمَنْ كَانَ ابْنَ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً وَمَنْ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے زۀ د اُحد په ورځ په جنګ کښ د رسول الله ﷺ مخے ته پیش کړے شوم او زۀ د څوارلسو کالو وم. حضرت ﷺ زۀ منظور نه کړمه بیا د پنځلسو کالو په عمر کښ د خندق په ورځ پیش کړے شوم نو حضرت ﷺ منظور کړمه نافع وائي زۀ د عمر بن عبدالعزیز خواله راغلم او دا حدیث مے ورته بیان کړو. هغه په دغه ورځو کښ خلیفه وو. هغوی اووے دغه د نابالغ او بالغ حد دے. او خپلو عاملانو ته ئے اولیکل چه کوم سړے د پنځلسو کالو وی د هغۀ حصه اولګوئ او کوم چه د پنځلسو نه کم

دی. او دښځے آواز ستر نه دے. البته د هغے بدن د ضرورت په وخت لکه د علاج، یا فصد یعنی ښکر لګولو په وخت یا د غابښ ویستلو او یا په سترګو کښ د دوایئ اچولو دپاره مسه کول صحیح دی. او دا ضروری خبرے هم په وخت رواه دی هر کله چه دغه کارونو کولو والا ښځه میلاؤ شي.

كَانَ دُوْنَ ذٰلِكَ فَاجْعَلُوْهُ فِي الْعِيَالِ

وی هغوی لره په بال بچ کښې شریك کړئ.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيْثِهِمْ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَاسْتَصْغَرَنِي

د عبید الله نه په دغه اسناد سره روایت دے مگر په دے کښې دا دی چه زهٔ د څوارلسو کالو وم نو حضرت ﷺ زهٔ ووړوکے اوګڼړلم.

بَابُ النَّهْيِ أَنْ يُسَافِرَ بِالْمُصْحَفِ إِلَى أَرْضِ الْكُفَّارِ إِذَا خِيفَ وُقُوعُهُ بِأَيْدِيهِمْ

باب: قرآن شریف د کافرو ملك ته وړل منع دی هرکله چه دا یره وی چه د هغوی په لاس به ورشی

عَنْ بْنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ د قرآن د وړلو نه د دشمن ملك ته په سفر کښې.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَنْهٰى أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ مَخَافَةَ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے وو قرآن لره د دشمن ملك ته د وړلو نه په سفر کښې د دے یرے نه چه چرته د دشمن لاس پرے اونهٔ لګی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُسَافِرُوْا بِالْقُرْآنِ فَإِنِّي لَا آمَنُ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ قَالَ أَيُّوْبُ فَقَدْ نَالَهُ الْعَدُوُّ وَخَاصَمُوْكُمْ بِهِ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مهٔ اوړئ په سفر کښې قرآن شریف لره ځکه چه ما ته یره ده د دشمن په لاس کښې د پریوتلو نه ابو ایوب وئیلی دی کهٔ د دشمن په لاس وراغے هغه به جهګړه کوی ستاسو سره په دے باندے[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَدِيْثِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَالثَّقَفِيِّ فَإِنِّي أَخَافُ وَفِي حَدِيْثِ سُفْيَانَ وَحَدِيْثِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ مَخَافَةَ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ

د ابن عمر رضی الله عنه نه د نبی ﷺ چه کوم حدیث د ابن علیه او د ثقفی په ذریعه مروی دے په هغه کښې دی چه زهٔ یریږم او چه کوم حدیث د سفیان او ضحاك په واسطه سره مروی دے په هغه کښې دی. د هغه یرے نه چه دشمن هغے لره حاصل کړی.

بَابُ الْمُسَابَقَةِ بَيْنَ الْخَيْلِ

باب: د اسونو د منډے مقابله او د هغے دپاره

---

[1] نووی رحمه الله وئیلی دی د ممانعت وجه داده چه دشمن د هغے بے ادبی او نهٔ کړی. او کچرے دا یره نهٔ وی مثلاً لوئے لښکر وی نو هغه وخت منع نهٔ دی. او د مالك په نز په هر حال کښې منع دی. او مالك مکروه ګڼړی هغه روپئ یا اشرفئ کافرو ته ورکول چه په هغے باندے د الله نوم لیکلے وی.

وَتَضْمِيرِهَا

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَابَقَ بِالْخَيْلِ الَّتِي قَدْ أُضْمِرَتْ مِنَ الْحَفْيَاءِ وَكَانَ أَمَدُهَا ثَنِيَّةَ الْوَدَاعِ وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضْمَرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ فِيمَنْ سَابَقَ بِهَا

عَنِ ابْنِ عُمَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ مَالِكٍ عَنْ نَافِعٍ وَزَادَ فِي حَدِيثِ أَيُّوبَ مِنْ رِوَايَةِ حَمَّادٍ وَابْنِ عُلَيَّةَ قَالَ عَبْدُ اللهِ فَجِئْتُ سَابِقًا فَطَفَّفَ بِي الْفَرَسُ الْمَسْجِدَ

اسونو لره تیارول

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د منډے هغه اسونو لره تیار کړی وو د دحیفاء نه د ثنیة الوداع پورے (ددے دوارو خایونو په مینځ کښ د پنځو یا شپږو میلو فاصله ده. او خنو شپږ یا اووۀ میله وئیلی دی) او کوم چه تیار کړے شوی نه وو د هغوی منډه د بنی زریق د جماعته پورے مقرر کړه. او ابن عمرؓ په هغه خلقو کښ وو چا چه منډه وهله

د ابن عمرؓ نه ددے حدیث هم معنی روایت دے کوم چه مالك د نافع نه روایت کړے دے. او د ایوب راوی نه کوم حدیث د حماد راوی او د ابن علیه په واسطه سره دے په هغے کښ دا دی چه عبدالله وئیلی دی زۀ مخکښ راغلم نو اس زۀ ویوړم په جماعت ورواوختۀ[1]

بَاب فَضِيلَةِ الْخَيْلِ وَإِنَّ الْخَيْرَ مَعْقُودٌ بِنَوَاصِيهَا

باب: د اسونو غوره والے او دا چه خیر او برکت ددوی د تندو سره تړلے دے

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَيْلُ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د حضرت عبد اللهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. د اسونو په تندی کښ برکت دے او بنۀ والے د قیامته پورے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ عَنْ نَافِعٍ

ابن عمرؓ د نبیﷺ نه دغسے حدیث روایت کړے دے څنګه چه مالك د نافعؓ نه

[1] نوویؒ وائی ددے حدیث نه د اسونو زغولو جواز معلوم شو او دا هم معلومه شوه چه دهغوی تیارول یعنی تضمیر کول د منډے دپاره صحیح دی. او تضمیر دا دے چه اس ته دانه چاره کمه کړی بیا هغوی ته ګرم پوشاك واغوندوی او په یوه بنده کوټه کښ نے بند کړی. ددے دپاره چه خوله شی او غوښه نے کمه شی او په منډه کښ تیز شی. او علماؤ اختلاف کړے دے چه اسونه زغلولو جائز دی یا مستحب دی او زمونږ د ملګرو په تر هغه مستحب دی. او بغیر د عوض نه خو بالاجماع صحیح دی. او په عوض هله صحیح دی چه دریم کس نے عوض ورکړی یا دریم سړے نے په مینځ کښ راشی او هغه څۀ ور نۀ کړی او په حدیث کښ د عوض ذکر نشته دے. انتهی

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْوِي نَاصِيَةَ فَرَسٍ بِإِصْبَعِهِ وَهُوَ يَقُولُ الْخَيْلُ مَعْقُودٌ بِنَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الْأَجْرُ وَالْغَنِيمَةُ

د جریر بن عبد الله نه روایت دے وائی چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدهٔ چه هغوی د اس د تندی ویختهٔ په ګوته مبارکه سره خوزول او فرمائیل ئے چه د اسونو د تندو سره برکت تړلے شوے دے د قیامته پورے. یعنی ثواب او غنیمت (په دنیا او هم آخرت)

عَنْ يُونُسَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د یونس په دغه اسناد سره داسے حدیث مروی دے.

عَنْ عُرْوَةَ الْبَارِقِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الْأَجْرُ وَالْمَغْنَمُ

د عروه بارقی نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی برکت تړلے شوے دے د اسونو د تندو سره د قیامته پورے یعنی ثواب او غنیمت.

عَنْ عُرْوَةَ الْبَارِقِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَيْرُ مَعْقُوصٌ بِنَوَاصِي الْخَيْلِ قَالَ فَقِيلَ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ بِمَ ذَاكَ قَالَ الْأَجْرُ وَالْمَغْنَمُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د عروه بارقی نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی برکت تړلے شوے دے د اسونو د تندو سره. خلقو عرض اوکړو چه ولے یا رسول الله؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل ثواب دے او غنیمت د قیامته پورے. (ځکه چه جهاد به د قیامت پورے قائم وی)

عَنْ حُصَيْنٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ عُرْوَةُ بْنُ الْجَعْدِ

د حصین نه په دغه اسناد سره روایت دے او په دے کښې دی عروه بن الجعد.

عَنْ عُرْوَةَ الْبَارِقِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ وَلَمْ يَذْكُرِ الْأَجْرَ وَالْمَغْنَمَ وَفِي حَدِيثِ سُفْيَانَ سَمِعَ عُرْوَةَ الْبَارِقِيَّ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عروه بارقی د نبی ﷺ حدیث روایت کړے دے او په دے کښې د اجر او د غنیمت ذکر نهٔ دے کړے او د سفیان په حدیث کښې دی چه هغوی د عروه بارقی نه اوریدلی دی او هغهٔ د نبی ﷺ نه اوریدلی دی.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْجَعْدِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا وَلَمْ يَذْكُرِ الْأَجْرَ وَالْمَغْنَمَ

عروه بن جعد د نبی ﷺ نه دغه حدیث روایت کړے دے او په دے کښې د اجر او د غنیمت ذکر نهٔ دے کړے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الْبَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الْخَيْلِ

د حضرت انس نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی برکت د اسونو په تندو کښې دے.

عَنْ أَنَسٍ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِهِ

انس د نبی ﷺ نه هم دغسې حدیث روایت کړې دې[1].

بَاب مَا يُكْرَهُ مِنْ صِفَاتِ الْخَيْلِ

باب: د اسونو کوم خصلتونه بد دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ الشِّكَالَ مِنَ الْخَيْلِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دې وائی چه رسول الله ﷺ به بد ګڼړلو اشکل اس لره. (د دې تفسیر مخکښې راځی).

عَنْ سُفْيَانَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ فِي حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ وَالشِّكَالُ أَنْ يَكُونَ الْفَرَسُ فِي رِجْلِهِ الْيُمْنَىٰ بَيَاضٌ وَفِي يَدِهِ الْيُسْرَىٰ أَوْ فِي يَدِهِ الْيُمْنَىٰ وَرِجْلِهِ الْيُسْرَىٰ

د سفیان په دې اسناد سره دغسې حدیث مروی دې. او د عبدالرزاق په حدیث کښې دا زیاته ده چه اشکل هغه اس دې چه د هغهٔ ښئ خپه او ګس لاس سپین وی یا ښئ لاس او ګسه خپه سپینه وی[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ وَكِيعٍ وَفِي رِوَايَةِ وَهْبٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ وَلَمْ يَذْكُرِ النَّخَعِيَّ

ابوهریره د نبی ﷺ نه د وکیع د حدیث پشان روایت کړې دې. او د وهب په روایت کښې دی د عبد الله بن یزید نه او د نخعی ذکرئې نهٔ دې کړې.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَضَمَّنَ اللهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَإِيمَانًا بِي وَتَصْدِيقًا بِرُسُلِي فَهُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ أَنْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ أَرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ نَائِلًا مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ مَا مِنْ كَلْمٍ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِ اللهِ إِلَّا

د حضرت ابوهریره نه روایت دې. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی ضامن دې د هغه چا چه څوك اوځی د هغهٔ په لاره کښې او نهٔ اوځی مګر دجهاد دپاره. او ایمان لره په الله تعالی باندې او رښتونې ګڼړی د هغهٔ پیغمبرانو لره. الله تعالی فرمائی داسې بنده څما په حفاظت کښې دې. یا خو به زهٔ دهٔ لره جنت ته بوځمه یا به ئې واپس کړمه خپل کورته د ثواب یا غنیمت حاصلولو سره. قسم دې په هغه ذات د چا په لاس کښې چه د محمد روح دې. یو زخم داسې نشته دې چه هغه د الله تعالی په لاره کښې زخمی شوې وی. مګر هغه به په قیامت کښې په هغه

---

[1] نووی وئیلی دی د دې حدیثونو نه د اس ساتلو فضیلت د جهاد د پاره وتلې دې. او هغه چه کوم په بل حدیث کښې دی چه سپیرهٔ توب په آس کښې وی مراد دې نهٔ هغه اس دې چه هغه د جهاد دپاره نهٔ وی. یا ځنې اسونه مبارك وی او ځنې منحوس وی.

[2] او اکثر د علم د خاوندانو په نزد اشکل هغه دی چه د هغهٔ درې خپې سپینې وی او یوه ئې د خپل رنګ په شان وی یا ئې درې د خپل رنګ پشان وی او یوه ئې سپینه وی. ابن ورید وئیلی دی اشکل هغه دی چه یو طرفته ئې مخکښې او روستو خپه سپینه وی. یائې یو طرفته مخکښې خپه او بل طرفته روستو خپه سپینه وی. والله اعلم

جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَهَيْئَتِهِ حِينَ كُلِمَ لَوْنُهُ لَوْنُ دَمٍ وَرِيحُهُ مِسْكٌ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْلَا أَنْ يَشُقَّ عَلَى الْمُسْلِمِينَ مَا قَعَدْتُ خِلَافَ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ أَبَدًا وَلَكِنْ لَا أَجِدُ سَعَةً فَأَحْمِلَهُمْ وَلَا يَجِدُونَ سَعَةً وَيَشُقُّ عَلَيْهِمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي أَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ فَأُقْتَلُ ثُمَّ أَغْزُو فَأُقْتَلُ ثُمَّ أَغْزُو فَأُقْتَلُ

شكل راشي لكه څنګه چه په دنيا كښې شوے وي. د هغے رنګ به د وينو پشان وي او خوشبوئي به ئے د مشكو پشان. قسم دے په هغه ذات د چا په لاس كښې چه د محمد ﷺ روح دے كچرے په مسلمانانو باندے ګرانيدے نه نو ما به د يو لښكر ملګرتيا نۀ وه پريخودے چه هغه د الله تعالى په لاره كښې جهاد كوي چرته هم ليكن خما سره دومره ګنجائش نشته (د سورو وغيره) او مسلمانانو ته به ګرانه وي خما سره تلل. قسم دے په هغه ذات د چا په لاس كښې چه د محمد ﷺ روح دے. زۀ دا غوارم چه جهاد اوكړم د الله تعالى په لاره كښې او اوژلے شم بيا جهاد اوكړم او بيا اوژلے شم بيا جهاد اوكړم او بيا اوژلے شم[1].

عَنْ عُمَارَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د عماره نه په دغه اسناد سره روايت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَكَفَّلَ اللهُ لِمَنْ جَاهَدَ فِي سَبِيلِهِ لَا يُخْرِجُهُ مِنْ بَيْتِهِ إِلَّا جِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ وَتَصْدِيقُ كَلِمَتِهِ بِأَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ يَرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ مَعَ مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. الله د هغۀ ضامن دے څوک چه جهاد كوي د هغۀ په لار كښې اونۀ اوځي د خپل كور نه مګر د الله په لار كښې د جهاد كولو دپاره. او د هغۀ د خبرے تصديق اوكړي په دے چه دا خل به كړے دۀ لره په جنت كښې يا به واپس كړي دۀ لره هغه كور خپل ته چه راوتلے وو د هغے نه سره د ثواب او غنيمت.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجُرْحُهُ يَثْعَبُ اللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ

د حضرت ابوهريره ؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. څوك داسے نشته چه زخمي شي د الله په لاره كښې. او الله ښۀ پوهه دے چه څوك زخمي شي د هغۀ په لاره كښې. مګر د قيامت په ورځ به په داسے حال كښې راشي چه وينه به ترے بهيږي. رنګ خو به د

---

[1] يعني چه بار بار د الله په لار كښې شهيد شم بيا ژوندے شم او بيا شهيد شم دد ے حديث نه د جهاد لوئې فضيلت ثابت شو او دا هم ثابته شوه چه جهاد يو داسے عبادت دے چه دد ے برابر بل يو عبادت نشته دے. او حضرت ﷺ ته د جهاد ډير زيات شوق وو. او حضرت ﷺ به دا غوښتله چه د يوے ټكرے سره پخپله هم جهاد ته اووتلے خو د خرچې د كم والي نه حضرت ﷺ مجبوره وو. او څنګه چه هغوي وتلے نو نور به هم تول مسلمانان وتلو. او د دومره خلقو سامان هر وخت مشكل وو.

وَالرِّيحُ رِيحُ مِسْكٍ

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ كَلْمٍ يُكْلَمُهُ الْمُسْلِمُ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ تَكُونُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَهَيْئَتِهَا إِذَا طُعِنَتْ تَفَجَّرُ دَمًا اللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ وَالْعَرْفُ عَرْفُ الْمِسْكِ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ فِي يَدِهِ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ مَا قَعَدْتُ خَلْفَ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ وَلٰكِنْ لَا أَجِدُ سَعَةً فَأَحْمِلَهُمْ وَلَا يَجِدُونَ سَعَةً فَيَتَّبِعُونِي وَلَا تَطِيبُ أَنْفُسُهُمْ أَنْ يَقْعُدُوا بَعْدِي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ مَا قَعَدْتُ خِلَافَ سَرِيَّةٍ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ وَبِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ أُحْيَا بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَحْبَبْتُ أَنْ لَا أَتَخَلَّفَ خَلْفَ سَرِيَّةٍ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ

وینې وی خو خوشبوئي به ترې د مشکو څي.

د همام بن منبه نه روایت دے وائي چه دا هغه حدیث دے چه بیان کړے دے مونږ ته ابوهریرهؓ چه د رسول اللهﷺ نه ئې اوریدلے دے بیائې بیان کړل څو حدیثونو لره او اوئې وئیل چه فرمائیلي دي رسول اللهﷺ کوم زخم چه مسلمان ته اولګي د الله په لاره کښې هغه به د قیامت په ورځ هم په دغه شکل باندې راشي. لکه څنګه چه نوے لګیدلے وي او وینه ترې بهیږي. رنګ خو به ئې د وینې وي خو خوشبوئي به ئې د مشکو وي. او حضرتﷺ اوفرمائیل. قسم دې په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس کښې د محمدﷺ روح دے. کچرے ګرانیدے نه په مسلمانانو باندې نو زهٔ به د هر لښکر سره تلمه کوم چه جهاد کوي د الله تعالی په لار کښې لیکن دومره ګنجائش نشته دے چه زهٔ ټولو له سورلئ ورکړمه. او نهٔ د هغوی دومره طاقت شته چه هغه ټول د خما سره وي او نهٔ به د هغوی زړونه دا خوښه کړي چه خما سره د نهٔ څي.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه ما اوریدلي دي د رسول اللهﷺ نه چه فرمائیلي ئې وو. کچرے ګرانیدے نه مسلمانانو ته نو زهٔ به د هر لښکر سره تلمه داسې لکه څنګه چه پورته تیر شو. په دے حدیث کښې دا دي چه قسم دے په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس کښې د خما روح دے زهٔ دا غوارم چه د الله په لاره کښې د قتل کړے شم بیا د ژوندے شم دغسې څنګه چه پورته دا حدیث د ابوزرعه د ابوهریرهؓ نه دے.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلي دي کهٔ ګرانیدے نه خما په امت باندې نو ما به غوښتله چه یو لښکر لره پرېنږدم څنګه چه پورته تیر شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَضَمَّنَ اللهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ إِلَى قَوْلِهِ مَا تَخَلَّفْتُ خِلَافَ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. الله تعالی ضامن دے د هغه سړی چه د الله په لاره کښ اوځی. د حضرت ﷺ فرمان چه زهٔ به د یوے سریّے نه نهٔ پاتے کیدے چه د الله تعالی په لاره کښ د جهاد د پاره تلے.

بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى

باب : د اللهؒ په لاره کښ د شهید کیدو غوره والے

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ نَفْسٍ تَمُوتُ لَهَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ يَسُرُّهَا أَنَّهَا تَرْجِعُ إِلَى الدُّنْيَا وَلَا أَنَّ لَهَا الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا إِلَّا الشَّهِيدُ فَإِنَّهُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ فَيُقْتَلَ فِي الدُّنْيَا لِمَا يَرَى مِنْ فَضْلِ الشَّهَادَةِ

د حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. څوک چه مر شی او د الله په نزد هغهٔ غوره والے وی نو هغه نهٔ راضی کیږی چه بیا دنیا ته راشی اګر کهٔ ټوله دنیا او څهٔ چه په دے کښ دی دا هر څهٔ هغهٔ ته میلاویږی. مګر شهید دا ارمان کوی چه بیا دنیا ته راغلے او اووژلے شوے. ځکه چه هغه د شهادت فضیلت ته ګوری[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَأَنَّ لَهُ مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ غَيْرُ الشَّهِيدِ فَإِنَّهُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ

د انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه جنت ته لاړ شی هغهٔ ته بیا دنیا ته د راتلو آرزو پاتے نهٔ شی اګر کهٔ هغهٔ ته د ټولے زمکے څیزونه ورکړے شی خو شهید آرزو کوی دنیا ته بیا د راتلو او د لس ځله قتل کیدو. ځکه چه هغه لیدلی وی د شهادت درجے لره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَعْدِلُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ لَا تَسْتَطِيعُونَهُ قَالَ فَأَعَادُوا عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلُّ ذَلِكَ يَقُولُ لَا

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته اوونیلے شو چه د الله په لاره کښ د جهاد کولو برابر کوم عادت دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل ته د هغے طاقت نهٔ شے لرلے. بیا هغوی تپوس اوکړو دوه یا درے ځله او حضرت ﷺ به ورته هر ځل هم دغه فرمائیل چه تهٔ د هغے

[1] نوویؒ وئیلی دی دا دے حدیث نه د شهادت لویه مرتبه یعنی فضیلت وتلے دے. او شهید ځکه وئیلے شی شهید ته چه هغه شاهد دے یعنی حاضر دے په جنت کښ او نور مسلمانان به د قیامت په ورځ جنت ته ځی. او ابن انباریؒ وئیلی دی ځکه چه الله او د هغهٔ فرښتے ګواه دی په جنت کښ. په دی وجه ختو وئیلی دی ځکه چه هغه د روح د وتلو سره د خپل اجر او درجے مشاهده کوی. او ختو وئیلی دی چه د رحمت فرښتے دهٔ ته حاضریږی. یا ورته شهید ځکه وائی چه دهغهٔ حال ګواه دے د هغهٔ د حسن خاتمے. یا ځکه چه د هغهٔ زخم د هغهٔ ګواه دے. یا ځکه چه هغه به ګواه وی په نورو امتونو باندے د قیامت په ورځ. انتهٰی ملخصاً

تَسْتَطِيعُونَهُ وَقَالَ فِي الثَّالِثَةِ مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللهِ لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ وَلَا صَلَاةٍ حَتَّى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى

طاقت نهٔ شئ لرلے. آخر په دریم ځل حضرت ﷺ اوفرمائیل. د الله په لاره کښې د جهاد کولو والامثال داسې دے لکه چه یو روژه دار په مانځهٔ اودریږی د الله تعالی د آیتونو فرمانبردار وی. نهٔ په روژه سترے کیږی نهٔ په مانځهٔ تر دے پورے چه واپس شی مجاهد د جهاد نه[1].

عَنْ سُهَيْلٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د سهیل نه په دغه اسناد هم دغسې روایت دے.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَجُلٌ مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أُسْقِيَ الْحَاجَّ وَقَالَ آخَرُ مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أَعْمُرَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ وَقَالَ آخَرُ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ أَفْضَلُ مِمَّا قُلْتُمْ فَزَجَرَهُمْ عُمَرُ وَقَالَ لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَلٰكِنْ إِذَا صَلَّيْتُ الْجُمُعَةَ دَخَلْتُ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فِيمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ الْآيَةَ إِلَى آخِرِهَا

د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے وائی چه زهٔ د رسول الله ﷺ د منبر په خواه کښې ناست وم. یو سړی اووے ما ته د مسلمانیدو نه پس د یو عمل هم پرواه نشته مگر زهٔ اوبهٔ څکوم په حاجیانو باندے. دویم اووے د اسلام د راوړو نه پس ما ته څهٔ پرواه ده د څهٔ عمل زهٔ خو د مسجد حرام مرمت کوم. دریم اووے ددے ټیزونو نه خو جهاد غوره دے. حضرت عمرؓ هغوی لره اورټل او ورته ئے اووئیل چه د حضرت ﷺ د منبر په مخکښې د جُمعے په ورځ چغې مهٔ وهئ. لیکن زهٔ به د جُمعے د مانځهٔ نه پس د حضرت ﷺ نه تپوس اوکړم د هغه خبرے په کومه کښې چه تاسو اختلاف کوئ. پس الله دا آیت نازل کړو. یعنی اے تاسو په حاجیانو اوبهٔ څکول او د مسجد حرام خدمت کول د ایمان او جهاد برابر کړل. هیڅ کله نهٔ شی کیدے د الله تعالی په مخکښې برابر نهٔ دی[2].

بَاب فَضْلِ الْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ

باب : د الله تعالی په لار کښې د سحر یا د مابنام د تلو فضیلت

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ

د حضرت انسؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی

---

[1] او نبکاره ده چه یو داسې نهٔ شی کولے نو د مجاهد برابر بل عبادت هم نهٔ شی کیدے.

[2] نوویؒ وائی ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه په جماعت کښې آواز اوچتول مکروه دی تر دے پورے چه هر کله مونځ کونکی چه جمع شی نو په دغه وخت به د الله ذکر یا د دین تعلیم هم په اوچت آواز سره نهٔ کوی. ځکه چه مونځ کونکی ته گرانیږی.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا

د الله په لاره كښې سحر يا مابنام تلل د دنيا نه او څه چه په دے كښې دي د دے نه غوره دي.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالْغَدْوَةُ يَغْدُوهَا الْعَبْدُ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا

د سهل بن سعد نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. سحر چه كوم بنده د الله په لاره كښې اوځي هغه د دنيا او څه چه په دے دنيا كښې دي د دے ټولو نه بهتر دي.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ غَدْوَةٌ أَوْ رَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا

سهل بن سعد وئيلي دي فرمائيلي دي رسول الله ﷺ كچرے څما په امت كښې څۀ خلق نۀ وے. بيائے نور حديث يانولو نو اوئے فرمائيل چه د مابنام د الله په لاره كښې وتل يا د سحر د دنيا په دے كښې چه څۀ دي د هغے نه ښۀ دي.

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَغَرَبَتْ

د ابو ايوب نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. سحر يا مابنام د الله په لاره كښې تلل غوره دي د هغه ټولو څيزونو نه چه په هغے باندے نمر راخيژي او ډوبيږي.

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ سَوَاءً

د ابو ايوب انصاري نه روايت دے چه رسول الله ﷺ بالكل هم دغسے اوفرمائيل (څنګه چه پورته حديث تير شو)

بَابُ بَيَانِ مَا أَعَدَّهُ اللهُ تَعَالَى لِلْمُجَاهِدِ فِي الْجَنَّةِ

باب: د جهاد كونكو د درجو بيان

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَبَا سَعِيدٍ مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ فَعَجِبَ لَهَا أَبُو سَعِيدٍ فَقَالَ أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللهِ فَفَعَلَ ثُمَّ قَالَ وَأُخْرَى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا

د ابوسعيد خدري نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل اے ابوسعيد خوك چه راضي وي د الله په رب كيدو سره او د اسلام په دين كيدو سره او د محمد ﷺ په نبي كيدو سره د هغه دپاره جنت واجب دے. د دے په اوريدو سره ابوسعيد حيران شو او اوئے وئيل تاسو بيا اوفرمايئ يا رسول الله! حضرت ﷺ بيا اوفرمائيل او اوئے فرمائيل چه يو عمل بل دے چه د هغے په وجه بنده ته په جنت كښې سل درجے ميلاويږي. او د هرے يوے درجے نه د بلے درجے پورے

بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ قَالَ وَمَا هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ.

د زمکې او آسامن هومره فاصله وي. حضرت ابوسعيد عرض اوکړو چه هغه کوم عمل دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل جهاد کول د الله تعالى په لاره کښې جهاد کول د الله تعالى په لاره کښې جهاد کول.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ سَمِعَهُ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَامَ فِيهِمْ فَذَكَرَ لَهُمْ أَنَّ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالْإِيمَانَ بِاللهِ أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ تُكَفَّرُ عَنِّي خَطَايَايَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ إِنْ قُتِلْتَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ قُلْتَ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ أَتُكَفَّرُ عَنِّي خَطَايَايَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ إِلَّا الدَّيْنَ فَإِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ لِي ذَلِكَ

د ابوقتادة نه روايت دے رسول الله ﷺ خطبے لوستو ته اودريدو په صحابؤ کښې او بيان ئے اوکړو هغوی ته چه په ټولو عملونو کښې افضل عمل جهاد دے د الله په لار کښې. او ايمان راوړل په الله تعالى باندے. يو سړے پاسيدۀ او اوئے وئيل يا رسول الله! کچرے زۀ اووژلے شم د الله په لاره کښې نو څما ګناه به معاف شي. حضرت ﷺ اوفرمائيل آو. کچرے تۀ اووژلے شې د الله تعالى په لار کښې د صبر سره او ستا نيت خالص وي د الله دپاره او تۀ دشمن ته مخامخ وے په شا نۀ تختيدے. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل تا څۀ اووے؟ هغۀ اووے کچرے زۀ اووژلے شم د الله په لار کښې نو څما ګناه به معاف شي. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل آو. کچرے تۀ اووژلے شوے په صبر سره او خالص نيت سره . او دشمن ته مخامخ وے په شا نۀ تختيدے. مګر قرض نۀ معاف کيږي. ځکه چه جبرائيل بيان کړه ما ته دے خبرے لره[1].

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ بِمَعْنَى حَدِيثِ اللَّيْثِ

ابوقتادة اووے چه يو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے او اوئے وئيل تاسو اوفرمايئ کچرے زۀ د الله په لاره کښې قتل کړے شم (مخکښې) د ليث راوی د حديث هم معنی حديث دے

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزِيدُ أَحَدُهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ

د ابوقتادة د نبي ﷺ نه روايت دے. ددے حديث په راويانو کښې يو دا زياته اووے چه يو سړے راغے او حضرت ﷺ په منبر باندے وو

[1] نووی چه نيت ئے خالص وي (يعنی خاص د الله تعالى دپاره جنګيږي. نۀ د ملک او مال دولت دپاره. نۀ د قوم د نوم د ګټولو دپاره او د عزت په واسطه او قرض نۀ معاف کيږي دغه شان ټول حقوق العباد نۀ معاف کيږي. او روميے حضرت ﷺ قرض لره مستثنى نۀ کړو بيا چه هر کله حضرت جبرائيل حضرت ﷺ ته په دغه وخت اوښودل نو حضرت ﷺ بيان کړل انتهى

ﷺ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ ضَرَبْتُ بِسَيْفِي بِمَعْنَى حَدِيثِ الْمَقْبُرِيِّ

هغهٔ اووے تاسو اووایئ چه کچرے زهٔ په خپله توره قتل کړم (مخکښې) د مقبری راوی د حدیث پشان دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضی الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ يُغْفَرُ لِلشَّهِيدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلاَّ الدَّيْنَ

د عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی د شهید هر یو گناه بخښی. لیکن قرض نهٔ شی بخښلے کیدے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ الْقَتْلُ فِي سَبِيلِ اللهِ يُكَفِّرُ كُلَّ شَيْءٍ إِلاَّ الدَّيْنَ

د عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه نه روایت دے . رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د الله تعالی په لاره کښې قتلیدل ختموی تولو گناهونو لره مګر قرض نهٔ

بَابُ بَيَانِ أَنَّ أَرْوَاحَ الشُّهَدَاءِ فِي الْجَنَّةِ وَأَنَّهُمْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ

باب : د شهیدانو روحونه په جنت کښې دی او دا چه د خپل رب سره ژوندی دی، رزق ورکړے کیږی

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْنَا عَبْدَ اللهِ عَنْ هٰذِهِ الْآيَةِ وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ قَالَ أَمَا إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ أَرْوَاحُهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِي إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمُ اطِّلاَعَةً فَقَالَ هَلْ تَشْتَهُونَ شَيْئًا قَالُوا أَيَّ شَيْءٍ نَشْتَهِي وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا فَفَعَلَ ذٰلِكَ بِهِمْ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ يَسْأَلُوا قَالُوا يَا رَبِّ نُرِيدُ أَنْ تَرُدَّ

د مسروق نه روایت دے وائی چه مونږ د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه تپوس اوکړو. دد ے ایت په باره کښې (وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ) یعنی مهٔ ګڼړه هغه خلقو لره چه قتل کړے شی په لاره د الله تعالی کښې مړهٔ بلکه هغه ژوندی دی د خپل پروردګار په نېز رزق ورکولے شی. عبد الله وائی مونږ دد ے ایت تپوس اوکړو (د رسول الله ﷺ نه) حضرت ﷺ اوفرمائیل د شهیدانو روحونه د شنو طوطیانو په بدن کښې په پنجرو کښې موجود دی چه هغه د عرش مبارك سره زوړند کړے شوی دی. او کوم ځائے غواړی په جنت کښې ګرځی راګرځی او چه څهٔ ئے زړهٔ غواړی خوری او بیا خپلو پنجرو ته راځی. پس خبر ورکړه دوی ته الله او ورته ئے اوفرمائیل تاسو څهٔ غواړئ هغوی اووے اوس مونږ څهٔ غواړو مونږ خو په جنت کښې چرته چه غواړو ګرځو راګرځو. پروردګار جل شانه ترے بیا تپوس اوکړو. بیائے ترے تپوس اوکړو. هر کله چه هغوی اولیدل چه بغیر د تپوس نه

أَرْوَاحَنَا فِيْ أَجْسَادِنَا حَتّٰى نُقْتَلَ فِيْ سَبِيْلِكَ مَرَّةً أُخْرٰى فَلَمَّا رَأٰى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوْا

زمونږ ارادی نشته (یعنی پروردگار جل شانه به برابر تپوس کولو) نو هغوی اووے اے زمونږ پروردګاره مونږ دا غوارو چه زمونږ روحونه د واپس شی زمونږ په بدنونو کښې (یعنی د دنیان په بدنونو کښې) دد ے دپاره چه مونږ دوباره ستا په لاره کښې اووژلے شو. هر کله چه پروردګار جل شانه اولیدل چه اوس د دوی یو خواهش نشته دے. نو پریخودل ئے هغوی لره[1].

بَاب فَضْلِ الْجِهَادِ وَالرِّبَاطِ

باب : د جهاد او د پهرے ورکولو غوروه والے

عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ فَقَالَ رَجُلٌ يُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِمَالِهِ وَنَفْسِهِ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ مُؤْمِنٌ فِيْ شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ اللّٰهَ رَبَّهُ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ

د ابوسعید خدری ؓ نه روایت دے چه یو سړے راغے د رسول الله ﷺ خواله او تپوس ئے اوکړو. چه کوم سړے غوره دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل خوك چه د الله تعالی په لاره کښې جهاد کوی په خپل مال او جان سره. هغهٔ اووے بیا څوك ؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل . هغه مؤمن چه هغه د غر په یو کنډو کښې د الله عبادت کوی. او خلقو لره بچ کوی د خپل شر نه[2].

عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ أَيُّ

د ابوسعید خدری ؓ نه روایت دے چه یو سړی اووے. یا رسول الله!

---

[1] نووی ؒ وئیلی دی دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه جنت موجود دے او دغه مذهب دے د اهل سنتو . او هم د دغه ځائے نه آدم علیه السلام راکوز کړے شوے وو. او هم دلته نه د ایمان خاوندان عیش کوی. د معتزله او دځنو بدعتیانو دا قول دے چه جنت به د قیامت نه پس پیدا کیږی. او د آدم علیه السلام هغه جنت بل وو. او دد ے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه روح لره فنا نشته دے. او د روح په حقیقت کښې ډیر اختلاف دے اکثر علماء دا وائی چه بندیګانو ته دد ے حقیقت معلوم نه دے. او فلاسفه وائی چه روح یو جدا خیز نه دے. او اطباء وائی چه روح یو باریك بخارد ے په بدن کښې. او ځنے مشائخو وئیلی دی چه روح د ژوند نوم دے یا د باریك جسمونو یا د ځنے حصے د جسم یا د جسم لطیف چه صورت د بیان لری په دغه جسم دننه یا د نفس داخل او خارج یا د وینے نوم دے. او صحیح داده چه روح اجسام لطیفه دی چه په بدن کښې برابر شوی دی یعنی د بدن سره یو ځائے شوی دی. هر کله چه هغه جدا کیږی نو بنیادم مړ کیږی. انتهی مختصراً

[2] نووی وئیلی دی چه دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه عزلت (یواځے والے او په ګوټ کښې ناسته) غوره دہ د صحبت او اختلاط نه او د شافعی او اکثرو علماؤ مذهب داد ے چه اختلاط غوره دے په دے شرط چه د فتنو نه حفاظت اوشی. او په دے کښې څهٔ شك نشته چه د فتنے په زمانه کښې یواځے اوسیدل غوره دی. او حدیث شریف په دغې باندے محمول دے.

النَّاسِ أَفْضَلُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ رَبَّهُ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ

كوم سړے غوره دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل هغه مؤمن چه په خپل مال او جان سره د الله ﷻ په لاره کښې جهاد کوی. هغۀ اووے د هغۀ نه پس څوك؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل. هغه سړے چه د خلقو نه غاړے ته شي په يو دره کښې اوسيږي او د خپل رب په عبادت کښې اولګي او خلقو لره د خپل شر نه بچ کوي.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فَقَالَ وَرَجُلٌ فِي شِعْبٍ وَلَمْ يَقُلْ ثُمَّ رَجُلٌ

د ابن شهاب نه په دغه اسناد سره روايت دے په دے کښې دي چه حضرت ﷺ اوفرمائيل هغه سړے چه په دره کښې اوسيږي او دا نشته چه بيا هغه سړے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ النَّاسِ لَهُمْ رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ يَطِيرُ عَلَى مَتْنِهِ كُلَّمَا سَمِعَ هَيْعَةً أَوْ فَزْعَةً طَارَ عَلَيْهِ يَبْتَغِي الْقَتْلَ وَالْمَوْتَ مَظَانَّهُ أَوْ رَجُلٌ فِي غُنَيْمَةٍ فِي رَأْسِ شَعَفَةٍ مِنْ هٰذِهِ الشَّعَفِ أَوْ بَطْنِ وَادٍ مِنْ هٰذِهِ الْأَوْدِيَةِ يُقِيمُ الصَّلَاةَ وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ وَيَعْبُدُ رَبَّهُ حَتّٰى يَأْتِيَهُ الْيَقِينُ لَيْسَ مِنَ النَّاسِ إِلَّا فِي خَيْرٍ

د ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د ټولو خلقو د ژوند نه د هغه خلقو ژوند غوره دے چه هغه په جهاد کښې د خپلو اسونو واګے نيولي دي او منډے وهي ګرځي د هغۀ په شا باندے. هر کله چه شور يا يره واؤري نو منډے وهي په خپلو قتليدو پسے او مرګ لره د مرګ په ځايونو کښې لټون کوی ګرځي. يا د هغه سړي ژوند غوره دے چه هغه بزے واخلي چرته د يو غر په سر باندے د غرونو د سرونو نه يا د غر په نالو کښې اوسيږي. مونځ کوی او زكوٰة ورکوی او د خپل رب عبادت کوی. د مرګه پورے د بنيادمو نه يو سړے په خير کښې نۀ دے سوا د هغۀ نه[1]

عَنْ أَبِي حَازِمٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ عَنْ بَعْجَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ بَدْرٍ وَقَالَ فِي شِعْبَةٍ مِنْ هٰذِهِ الشِّعَابِ خِلَافَ رِوَايَةِ يَحْيٰى

د ابو حازم نه په دغه اسناد سره دغسے روايت دے او په دے کښې دي بعجه بن عبد الله بن بدر او په دے کښې د شعفه په ځائے شعبه دے د يحيٰى راوي د روايت خلاف.

[1] حضرت ﷺ په دے حديث کښې دوو کسانو ته د هر چا نه افضل ونيلي دی. يو مجاهد قرباني ورکونکي ته او بل په خانله ځائے کښې عبادت کونکي ته او په حقيقت کښې چه هر کله د فساد زمانه وی لکه دا زمانه چه ده. په دے کښې د خانله اوسيدو نه غوره يو څيز نشته دے مګر هغه کس چه د هغۀ په خلقو کښې د اوسيدو نه د دين فائده وی او د هغۀ د پاره د نقصان يره نۀ وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمَعْنَى حَدِيثِ أَبِي حَازِمٍ عَنْ بَعْجَةَ وَقَالَ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ

ابوهریرة د نبی ﷺ نه ددے حدیث هم معنی حدیث بیان کړو خنګه ئے چه اووے د درّو نه په یوه درّه کښ.

بَاب بَيَانِ الرَّجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ

باب : کوم قاتل او مقتول دواړه به جنت ته ځی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَضْحَكُ اللهُ إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ كِلَاهُمَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ فَقَالُوا كَيْفَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ يُقَاتِلُ هَذَا فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيُسْتَشْهَدُ ثُمَّ يَتُوبُ اللهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْلِمُ فَيُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيُسْتَشْهَدُ

د حضرت ابوهریرة نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. الله عزوجل اوخاندی د دوؤ سړو په لیدو سره. چه یو بل قتل کړے وی او بیا دغه دواړه جنت ته لاړ شی. خلقو عرض اوکړو دا به څنګه وی یا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل یو سړے اوجنګیدو د الله تعالی په لاره کښ او شهید شو او چا چه دهٔ لره شهید کړے وو هغه مسلمان شو او بیا اوجنګیدو د الله تعالی په لاره کښ او شهید شو.[1]

عَنْ أَبِي الزِّنَادِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د زناد نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُ اللهُ لِرَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ كِلَاهُمَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَالُوا كَيْفَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ يُقْتَلُ هَذَا فَيَلِجُ الْجَنَّةَ ثُمَّ يَتُوبُ اللهُ عَلَى الْآخَرِ فَيَهْدِيهِ إِلَى الْإِسْلَامِ ثُمَّ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ فَيُسْتَشْهَدُ

د همام بن منبه نه روایت دے هغوی اووے دا هغه حدیث دے چه ابوهریرة د رسول الله ﷺ نه روایت کړے دے. چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی دوؤ سړو ته په کتلو خاندی چه یو بل قتل کړی او دواړه جنت ته ځی. صحابؤ عرض اوکړو دا څنګه اے د الله رسوله! حضرت ﷺ اوفرمائیل چه دے قتل کړی او جنت ته لاړ شی. بیا الله تعالی په بل باندے رحم اوکړی او دهٔ ته هدایت اوکړی د اسلام بیا هغه جهاد اوکړی د الله په لار کښ او شهید شی.

بَاب مَنْ قَتَلَ كَافِرًا ثُمَّ سَدَّدَ

باب : کوم سړے چه یو کافر قتل کړی بیا په نیك

[1] قاتل او مقتول دواړه جنتیان شو نووی وئیلی دی د الله تعالی د خندا نه استعاره مقصود ده. خکه چه هغه خنده کومه چه زمونږ دپاره متعارف ده دالله تعالی دپاره جائز کیدے نهٔ شی خکه چه هغه خاص ده د جسم او متغیراتو سره. او الله جل جلاله ددے نه پاك دے نو مراد د خندا نه رضا ده پهٔثواب او تعریف د هغهٔ د فعل یا د فرښتو خندل دی. انتهی.

عمل قائم پاتے شی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَجْتَمِعُ كَافِرٌ وَقَاتِلُهُ فِي النَّارِ أَبَدًا

د حضرت ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى . كافر او د هغهٔ وژلو والا (مسلمان) دواړه به يو ځائے جهنم كښې نهٔ وى. او كافر ته به دا موقع نه ميلاويږى چه په مسلمان پورے اوخاندى (او دا پيغور ورکړی چه تا ته د ايمان نه څهٔ فائده اوشوه)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَجْتَمِعَانِ فِي النَّارِ اجْتِمَاعًا يَضُرُّ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ قِيلَ مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مُؤْمِنٌ قَتَلَ كَافِرًا ثُمَّ سَدَّدَ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل . دواړه به په جهنم كښې په دے شان يو ځائے نهٔ وى چه يو بل ته نقصان اورسوى خلقو عرض اوکړو هغه کوم خلق دى يا رسول الله؛ حضرت ﷺ اوفرمائيل . چه يو مسلمان كافر لره قتل كړى او بيا په نيكئ قائم پاتے شى[1]

بَابُ فَضْلِ الصَّدَقَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ وَتَضْعِيفِهَا

باب : د الله په لار كښې د صدقے د وركولو ثواب او د هغے څو چنده زياتيدل

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ بِنَاقَةٍ مَخْطُومَةٍ فَقَالَ هَذِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعُ مِائَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا مَخْطُومَةٌ

د ابو مسعود انصارى نه روايت دے چه يو سړى يوه اوښه راوسته پيزوان د پرى سره او اوئے وئيل چه دا د الله تعالى په لاره كښې وركوم. حضرت ﷺ اوفرمائيل د دے په بدله به تا ته د قيامت په ورځ اووهٔ سوه اوښان زين كړے شوى ميلاؤ شى.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د اعمش نه په دغه اسناد سره روايت دے.

بَابُ فَضْلِ إِعَانَةِ الْغَازِي فِي سَبِيلِ

باب : د غازى د مدد كولو غوره والے په

---

[1] نووى ونيلى دى په دے كښې دا اشكال دے چه دا سے مسلمان خو جهنم ته به څى هم نه بيا په يو ځائے نه كيدو څهٔ غرض دے خواه كهٔ هغه كافر قتل كړى يا نهٔ كړى.او دهغے جواب دا دے چه كيدے شى د راويانو نه په دے حديث كښې غلطى شوے وى او صحيح داده چه هغه مؤمن چه هغهٔ لره كافر قتل كړى او روستو د هغے نه كافر ايمان راوړى نو د دے انجام به هغه وى كوم چه د حديث يضحك الله دے يا د سدّد نه دا غرض دے چه په ايمان باندے قائم پاتے شى. ليكن د نورو گناهونو نه خان بچ نهٔ كړى نو دا سے مؤمن جهنم ته تلے شى خو هغه به په جهنم كښې د كافرو سره يو ځائے نهٔ وى انتهى مع زيادة

اللهِ بِمَرْكُوبٍ وَغَيْرِهِ

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي أُبْدِعَ بِي فَاحْمِلْنِي فَقَالَ مَا عِنْدِي فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَا أَدُلُّهُ عَلَى مَنْ يَحْمِلُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ فَتًى مِنْ أَسْلَمَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُرِيدُ الْغَزْوَ وَلَيْسَ مَعِي مَا أَتَجَهَّزُ قَالَ ائْتِ فُلَانًا فَإِنَّهُ قَدْ كَانَ تَجَهَّزَ فَمَرِضَ فَأَتَاهُ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَيَقُولُ أَعْطِنِي الَّذِي تَجَهَّزْتَ بِهِ قَالَ يَا فُلَانَةُ أَعْطِيهِ الَّذِي تَجَهَّزْتُ بِهِ وَلَا تَحْبِسِي عَنْهُ شَيْئًا فَوَاللهِ لَا تَحْبِسِي مِنْهُ شَيْئًا فَيُبَارَكَ لَكِ فِيهِ

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَهُ فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فَقَدْ

سورلئ وغيره سره

د حضرت ابومسعود انصاري نه روايت دے چه يو سړی د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو يا رسول الله ځما څناور لاړل اوس ماله سورلئ راکړه. حضرت ﷺ اوفرمائيل ځماسره سورلئ نشته دے. يو سړی اووے يا رسول الله زه ده ته يو داسے سړے اوښايم چه سورلئ ورته ورکړی. حضرت ﷺ اوفرمائيل. څوک چه يوه د نيکئ لاره اوښائی هغهٔ له د نيکئ کونکی هومره ثواب دے.

د اعمش نه په دغه اسناد سره روايت دے.

د انس نه روايت دے چه يو ځوان د اسلم قبيلے رسول الله ﷺ ته اووے. يا رسول الله زهٔ د جهاد اراده لرم او ځما سره سامان نشته دے. حضرت ورته اوفرمائيل د فلانی سړی خواله ورشه هغه سامان تيار کړے وو د جهاد خو هغه ناجوړه شوے دے. هغه کس د هغه سړی خواله لاړهٔ او ورته ئے اووے چه رسول الله ﷺ پتا سلام ونيلے دے او فرمائيل ئے دی چه هغه سامان ما ته راکړه. هغهٔ (خپلے بی بی يا وينځے ته اووے) اے فلانئ هغه ټول سامان دهٔلره ورکړه او څهٔ شے ترے مهٔ پريږده. په الله قسم چه څهٔ شے ته نهٔ اوساتے په هغے کښ برکت نهٔ وی.

د زيد بن خالد جهنی نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چا چه سامان ورکړو يو غازی ته د الله تعالی په لاره کښ هغه جهاد اوکړو او چا چه د غازی د کور خبر واخستو هغه هم جهاد اوکړو (يعنی د جهاد ثواب هغهٔ اوګټلو)

د زيد بن خالد جهنی نه روايت دے چه نبی ﷺ اوفرمائيل چا چه يو غازی ته د جهاد سامان ورکړو نو بيے شکه هغهٔ جهاد اوکړو. او چا

غزا ومن خلف غازيا في أهله فقد غزا

چه د غازی د کور والاؤ خبر واخستو نو هغهٔ جهاد اوکړو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا إِلَى بَنِي لَحْيَانَ مِنْ هُذَيْلٍ فَقَالَ لِيَنْبَعِثْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا وَالْأَجْرُ بَيْنَهُمَا

د ابوسعید خدری ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو لښکر د بنی لحیان په طرف اولیږو. چه د هذیل قبیلے یو شاخ دے او ورته ئے اوفرمائیل په دوو سړو کښں د یو سړے د هر کور نه رااوځی او ثواب به د دواړو کیږی (د یو د جهاد او د بل د مجاهد د کور د خبر اخستو)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ بَعَثَ بَعْثًا بِمِثْلِهِ

د ابوسعید خدری ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو لښکر اولیږهٔ (مخکښں مضمون) د پورتنی حدیث پشان دے.

عَنْ يَحْيَى بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د یحیٰی نه په دغه اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ إِلَى بَنِي لَحْيَانَ لِيَخْرُجْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ رَجُلٌ ثُمَّ قَالَ لِلْقَاعِدِ أَيُّكُمْ خَلَفَ الْخَارِجَ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ بِخَيْرٍ كَانَ لَهُ مِثْلُ نِصْفِ أَجْرِ الْخَارِجِ

د ابوسعید خدری ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ یو لښکر بنو لحیان طرف ته اولیږهٔ چه د هذیل قبیلے یو ښاخ دے او اوئے فرمائیل په دوؤ سړو کښں د یو سړے اوځی . بیا حضرت ﷺ روستو پاتیکیدونکی ته اوفرمائیل څوك چه د مجاهد د کور ښهٔ خیال ساتی نو هغهٔ ته به د مجاهد نه نیم ثواب ملاویږی.

بَابُ حُرْمَةِ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ وَإِثْمِ مَنْ خَانَ فِيهِنَّ

باب : د مجاهدینو د ښځو د حرمت بیان او هغوی کښں د خیانت کونکو د ګناه بیان

عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِينَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِينَ فِي أَهْلِهِ فَيَخُونُهُ فِيهِمْ إِلَّا وُقِفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَأْخُذُ مِنْ عَمَلِهِ مَا شَاءَ فَمَا ظَنُّكُمْ

د بریده ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د مجاهدینو د ښځو حرمت د کور په اوسیدونکو باندے داسے دے لکه د هغوی د میاندو حرمت او کوم سړے چه په کور کښں د مجاهد د کور د خبر اخستو د پاره پاتے وی او بیا په هغے کښں خیانت اوکړی نو هغه به د قیامت په ورځ اودرولے شی او مجاهد ته به اوونیلے شی چه دده د عمل نه چه څهٔ غواړے واخله

عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ يَعْنِي النَّبِيَّ ﷺ بِمَعْنَى حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ

علقمه بن مرثد د ابن بریده نه هغوی د خپل پلار ؓ نه روایت کړے دے چه نبی ﷺ د ثوری (راوی) د حدیث پشان اوفرمائیل

عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فَقَالَ فَخُذْ مِنْ حَسَنَاتِهِ مَا شِئْتَ فَالْتَفَتَ إِلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ فَمَا ظَنُّكُمْ

د علقمه بن مرثد نه په دغه اسناد سره روایت دے. او په دیکښ دادی چه مجاهد ته اووئیلے شی نو د هغهٔ د نیکو نه چه څهٔ غواړے واخله. دا اوفرمائیل جناب رسول خدا ﷺ زمونږ طرف ته اوکتل او اوئے فرمائیل بیا تاسو څهٔ خیال کوئ؟ (یعنی هغه مجاهد یو ے نیکئ پریخودو والا نهٔ دے، تو لے به اخلی)

بَابُ سُقُوطِ فَرْضِ الْجِهَادِ عَنِ الْمَعْذُوْرِيْنَ

باب: په معذور باندے جهاد فرض نهٔ دے

عَنِ الْبَرَاءِ فِي هٰذِهِ الْآيَةِ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُجَاهِدُوْنَ فِي سَبِيْلِ اللهِ فَأَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ زَيْدًا فَجَاءَ بِكَتِفٍ يَكْتُبُهَا فَشَكَا إِلَيْهِ ابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ ضَرَارَتَهُ فَنَزَلَتْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ قَالَ شُعْبَةُ وَأَخْبَرَنِي سَعْدُ بْنُ إِبْرَاهِيْمَ عَنْ رَجُلٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ فِي هٰذِهِ الْآيَةِ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ الْبَرَاءِ وَقَالَ ابْنُ بَشَّارٍ فِي رِوَايَتِهِ سَعْدُ بْنُ إِبْرَاهِيْمَ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ رَجُلٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ

د براء ؓ نه روایت دے چه دد ے ائیت په باب کښ: لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ (یعنی برابر نهٔ دی په کور کښ ناست او جهاد کونکی مسلمانان (یعنی د جهاد کونکو درجه ډیره لویه ده)) رسول خدا ﷺ حکم اوکړو زید ته. هغوی یو هډوکے راواخستو راغے او په هغے باندے ئے دا ائیت اولیکهٔ. بیا عبد الله بن ام مکتوم ؓ شکایت اوکړو د خپلے نابینایئ (یعنی زهٔ ړوند یم دد ے وجے نه جهاد ته نهٔ شم تلے نو خما درجه به کمیږی) دغه وخت د غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ لفظ نازل شو. یعنی هغه خلق کوم چه معذوره نهٔ دی. او معذور خو په درجه کښ به د مجاهدینو سره برابر دی.

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ كَلَّمَهُ ابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ فَنَزَلَتْ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ

د براء ؓ نه روایت دے وائی چه هر کله دا ائیت نازل شو: لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ نو ابن ام مکتوم خبرے اوکړے. پس غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ نازل شو.

بَابُ ثُبُوْتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيْدِ

باب: د شهید دپاره د جنت ثابتیدل

عَنْ جَابِرًا يَقُوْلُ قَالَ رَجُلٌ أَيْنَ أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنْ قُتِلْتُ قَالَ فِي الْجَنَّةِ فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ كُنَّ فِي يَدِهِ ثُمَّ قَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ وَفِي

د جابر ؓ نه روایت دے چه یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ زهٔ به کوم ځائے یم کچرے اووژلے شم. حضرت ﷺ اوفرمائیل په جنت کښ. دد ے په اریدو هغهٔ څو کهجورے چه د هغهٔ په لاس کښ وے (د خوراك

حَدِيثِ سُوَيْدٍ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي النَّبِيتِ قَبِيلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّكَ عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ثُمَّ تَقَدَّمَ فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمِلَ هَذَا يَسِيرًا وَأُجِرَ كَثِيرًا

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُسَيْسَةَ عَيْنًا يَنْظُرُ مَا صَنَعَتْ عِيرُ أَبِي سُفْيَانَ فَجَاءَ وَمَا فِي الْبَيْتِ أَحَدٌ غَيْرِي وَغَيْرُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا أَدْرِي مَا اسْتَثْنَى بَعْضَ نِسَائِهِ قَالَ فَحَدَّثَهُ الْحَدِيثَ قَالَ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَكَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ لَنَا طَلِبَةً فَمَنْ كَانَ ظَهْرُهُ حَاضِرًا فَلْيَرْكَبْ مَعَنَا فَجَعَلَ رِجَالٌ يَسْتَأْذِنُونَهُ فِي ظُهْرَانِهِمْ فِي عُلْوِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ لَا إِلَّا مَنْ كَانَ ظَهْرُهُ حَاضِرًا فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ حَتَّى سَبَقُوا الْمُشْرِكِينَ إِلَى بَدْرٍ وَجَاءَ الْمُشْرِكُونَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُقَدِّمَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ إِلَى شَيْءٍ حَتَّى أَكُونَ أَنَا دُونَهُ فَدَنَا الْمُشْرِكُونَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ

دپاره، اوغورځولې او او جنګیدو تر هغې پورې چه شهید شو. او د سوید په روایت کښې دی چه د أُحد په ورځ یو سړی اووے

د براءؓ نه روایت دے یو سړے د بنی نبیت راغے. بنی نبیت د انصارو یوه قبیله ده او اوئے وئیل زهٔ ګواهی ورکوم چه د الله تعالی نه سوا بل څوك د عبادت لائق نشته او تاسو د الله بنده او د هغهٔ پیغام رسولو والا یئ بیا ور مخکښې شو او اوجنګیدو تردے پورے چه اووژلے شو حضرت ﷺ اوفرمائیل دهٔ عمل لږ او کړو خو ثواب ئے ډیر اوموندو.

د انس بن مالكؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ بُسَیسه لره (دا د یو سړی نوم دے) جاسوس مقرر کړو او اوئے لیږلو چه د ابوسفیان د قلعه خبر راوړی. هغه واپس راغے. دغه وخت څما نه او د رسول الله ﷺ نه په کور کښې سوا نور څوك نهٔ وو. راوی وائی ما ته یاد نهٔ دی چه د حضرتؐ د کومے بی بی حضرت انسؓ ذکر اوکړو. بیائے حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ بهر رااووتو او اوئے فرمائیل زمونږ کار دے نو د چا سورلئ چه موجوده وی هغه د سور شی زمونږ سره. ددے په اوریدو څو سړو د حضرت ﷺ نه اجازت غوښتل شروع کړل په خپلو سورلو پسے چه د مدینے منورے په اوچتو ځایونو کښې دے لاړ شی. حضرت ﷺ اوفرمائیل نه. صرف هغه خلق د لاړ شی چه د هغوی سورلئ موجودے وی آخر چه حضرت ﷺ لاړو د خپلو صحابؤ سره. تردے پورے چه د مشرکینو نه مخکښې بدر ته اورسیدو. حضرت ﷺ اوفرمائیل ستاسو نه د څوك د څهٔ څیز په طرف نهٔ ور مخکښې کیږی دکومے پورے چه زهٔ د هغهٔ نه مخکښې نهٔ یم. بیا مشرکان نزدے اورسیدل. پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل پاڅئ جنت ته د تلو دپاره چه د هغے پلنوالے

عَرْضُهَا السَّمٰوَاتُ وَالْأَرْضُ قَالَ يَقُوْلُ عُمَيْرُ بْنُ الْحُمَامِ الْأَنْصَارِيُّ يَا رَسُوْلَ اللهِ جَنَّةٌ عَرْضُهَا السَّمٰوَاتُ وَالْأَرْضُ قَالَ نَعَمْ قَالَ بَخٍ بَخٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَحْمِلُكَ عَلٰى قَوْلِكَ بَخٍ بَخٍ قَالَ لَا وَاللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِلَّا رَجَاءَةَ أَنْ أَكُوْنَ مِنْ أَهْلِهَا قَالَ فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا فَأَخْرَجَ تَمَرَاتٍ مِنْ قَرَنِهٖ فَجَعَلَ يَأْكُلُ مِنْهُنَّ ثُمَّ قَالَ لَئِنْ أَنَا حَيِيْتُ حَتّٰى آكُلَ تَمَرَاتِيْ هٰذِهٖ إِنَّهَا لَحَيَاةٌ طَوِيْلَةٌ قَالَ فَرَمٰى بِمَا كَانَ مَعَهُ مِنَ التَّمْرِ ثُمَّ قَاتَلَهُمْ حَتّٰى قُتِلَ

د تولو اسمانونو او د زمکې برابر دے عمیر بن حمام انصاری اووے یا رسول الله ﷺ د جنت پلنوالے د زمکې او اسمانونو برابر دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. هغهٔ اووے واه سبحان الله. حضرت ﷺ اوفرمائیل. داسې ولې وائې. هغهٔ اووے هیڅ نشته یا رسول الله ﷺ ما په دے اُمید سره اووے چه د جنت د خلقو نه زهٔ هم یم. حضرت ﷺ اوفرمائیل ته د جنتیانو نه ئې. دد ے په اوریدو هغه څو کهجورے د خپل ترکش نه رااوویستے. او هغه خوړل ئې شروع کړل بیائې اووے کچرے زهٔ ژوندے پاتې شم د خپلو کهجورو د خوړلو پورے نو لوئې اوږد ژوند به شي. او څومره کهجورے چه ورسره باقي پاتې وے هغه ئې اوغورځولے. او اوجګنیدو د کافرو سره تر دے پورے چه شهید شو.[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ أَبِيْ وَهُوَ بِحَضْرَةِ الْعَدُوِّ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ فَقَامَ رَجُلٌ رَثُّ الْهَيْئَةِ فَقَالَ يَا أَبَا مُوْسٰى أَنْتَ سَمِعْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَرَجَعَ إِلٰى أَصْحَابِهٖ فَقَالَ أَقْرَأُ عَلَيْكُمُ السَّلَامَ ثُمَّ كَسَرَ جَفْنَ سَيْفِهٖ فَأَلْقَاهُ ثُمَّ مَشٰى بِسَيْفِهٖ إِلَى الْعَدُوِّ فَضَرَبَ بِهٖ حَتّٰى قُتِلَ

عبد الله بن قیس د خپل پلار نه روایت کړے دے هغه د دشمن په مخکښې وو او وئیل ئې رسول الله ﷺ فرمائیلي دی د جنت دروازے د تورو د سورو لاندے دی. دد ے په اوریدو یو سړے پاڅیدهٔ غریب خیرن خیچن. او اوئې وئیل اے ابوموسیٰ تاسو دا د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی. هغوی اووے آو: حضرت ﷺ داسې فرمائیلي وو. دد ے په اریدو هغه د خپلو ملګرو په طرف لاړو او اوئې وئیل زهٔ تاسو ته سلام کوم او د خپلې تورے قاش ئې مات کړو او توره ئې واخسته دد شمن په طرف لاړو پس وژل ئې د شمنانو لره تر دے پورے چه شهید شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ جَاءَ نَاسٌ إِلٰى

د حضرت انس نه روایت دے وائي چه څهٔ خلق د رسول الله ﷺ خواله

[1] نووی وائي دد ے حدیث نه معلومه شوه چه امام لره جنګ پټول صحیح دی دد ے دپاره چه خبره ښکاره نهٔ شي- او نقصان او نهٔ رسي او دا هم معلومه شوه چه په کافرانو کښې ننوتل د شهادت دپاره صحیح دي. بې د کراهت نه د جمهور علماؤ دغه قول دے.

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا أَنْ ابْعَثْ مَعَنَا رِجَالاً يُعَلِّمُونَا الْقُرْآنَ وَالسُّنَّةَ فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ سَبْعِينَ رَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ فِيهِمْ خَالِي حَرَامٌ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ وَيَتَدَارَسُونَ بِاللَّيْلِ يَتَعَلَّمُونَ وَكَانُوا بِالنَّهَارِ يَجِيئُونَ بِالْمَاءِ فَيَضَعُونَهُ فِي الْمَسْجِدِ وَيَحْتَطِبُونَ فَيَبِيعُونَهُ وَيَشْتَرُونَ بِهِ الطَّعَامَ لأَهْلِ الصُّفَّةِ وَلِلْفُقَرَاءِ فَبَعَثَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فَعَرَضُوا لَهُمْ فَقَتَلُوهُمْ قَبْلَ أَنْ يَبْلُغُوا الْمَكَانَ فَقَالُوا اللَّهُمَّ بَلِّغْ عَنَّا نَبِيَّنَا أَنَّا قَدْ لَقِينَاكَ فَرَضِينَا عَنْكَ وَرَضِيتَ عَنَّا قَالَ وَأَتَى رَجُلٌ حَرَامًا خَالَ أَنَسٍ مِنْ خَلْفِهِ فَطَعَنَهُ بِرُمْحٍ حَتَّى أَنْفَذَهُ فَقَالَ حَرَامٌ فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لأَصْحَابِهِ إِنَّ إِخْوَانَكُمْ قَدْ قُتِلُوا وَإِنَّهُمْ قَالُوا اللَّهُمَّ بَلِّغْ عَنَّا نَبِيَّنَا أَنَّا قَدْ لَقِينَاكَ فَرَضِينَا عَنْكَ وَرَضِيتَ عَنَّا .

راغلو او عرض ئے اوکړو چه په مونږ باندے يو څو سړی مقرر کړی چه هغه مونږ ته قران او حديث بنائی. حضرت ﷺ د هغوی سره اويا انصاری سړو لره مقرر کړو چه هغے ته به ئے قراء (د قاری جمع يعنی قران لوستونکی) ونيلو. په هغوی کښې څما ماما حرام هم وو. هغه خلقو به قران مجيد خودل کولو. او د شپے به ئے د قران مجيد تحقيق کول ايزده کول او د ورځے به ئے اوبهٔ راوړے او په جماعت کښې به ئے ايخودے. او لرګی به ئے جمع کول او بيا به ئے خرڅول او غله به ئے اخسته د صفے والاؤ او د فقيرانو دپاره (صفه په جماعت کښې يو ځائے وو چه په کښې اويا سړی اوسيدل چه محض بے معاشه او متوکل وو) د رسول الله ﷺ هغه خلقو لره کوم چه هغوی ورسره ملګری کړی وو) دغه کسانو په لاره کښې د هغوی مقابله اوکړه او هغوی ئے قتل کړل (يعنی هغه خلق ئے قتل کړل کوم چه ورسره رسول الله ﷺ د قران د ښودنے دپاره ملګری کړی وو) خپلو کورونو ته د رسيدو نه مخکښې هغوی (د مرګ په وخت اووے يا الله زمونږ نبی ته اورسوے چه مونږ ستا سره ميلاؤ شو. او راضی يو ستا نه او ته زمونږ نه راضی شے. يو سړے (د کافرانو نه) د حرام خواله راغے (چه حرام د انس بن مالك ماما وو) او په غشی ئے اووهو هغوی لره داسے چه پورے ترے اووتو. حرام اووے زهٔ مراد ته اورسيدم قسم دے د کعبے په مالك باندے. رسول الله ﷺ خپلو صحابؤ ته اوفرمائيل. ستاسو رونړه اووژلے شو او هغوی داونيل چه يا الله زمونږ نبی خبر کړه چه مونږ ستاسره يو ځائے شو او ستا نه راضی يو او ته زمونږ نه راضی ئے. (دا خبر رسول الله ﷺ ته جبرائيل ؑ رااورسوؤ. او حضرت ﷺ صحابؤ لره خبر ورکړو)

عَنْ أَنَسٍ عَمِّيَ الَّذِي سُمِّيتُ بِهِ لَمْ

د انس ؓ نه روايت دے وائی چه څما ترهٔ چه د هغهٔ په نوم څما نوم

يَشْهَدْ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدْرًا قَالَ فَشَقَّ عَلَيْهِ قَالَ أَوَّلُ مَشْهَدٍ شَهِدَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُيِّبْتُ عَنْهُ وَإِنْ أَرَانِيَ اللهُ مَشْهَدًا فِيمَا بَعْدُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَرَانِي اللهُ مَا أَصْنَعُ قَالَ فَهَابَ أَنْ يَقُولَ غَيْرَهَا قَالَ فَشَهِدَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ قَالَ فَاسْتَقْبَلَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فَقَالَ لَهُ أَنَسٌ يَا أَبَا عَمْرٍو أَيْنَ فَقَالَ وَاهًا لِرِيحِ الْجَنَّةِ أَجِدُهُ دُونَ أُحُدٍ قَالَ فَقَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ قَالَ فَوُجِدَ فِي جَسَدِهِ بِضْعٌ وَثَمَانُونَ مِنْ بَيْنِ ضَرْبَةٍ وَطَعْنَةٍ وَرَمْيَةٍ قَالَ فَقَالَتْ أُخْتُهُ عَمَّتِي الرُّبَيِّعُ بِنْتُ النَّضْرِ فَمَا عَرَفْتُ أَخِي إِلاَّ بِبَنَانِهِ وَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً قَالَ فَكَانُوا يُرَوْنَ أَنَّهَا نَزَلَتْ فِيهِ وَفِي أَصْحَابِهِ

ايخودے شوے دے (يعنى د هغهٔ نوم هم انس وو) د رسول الله ﷺ سره د بدر په غزا كښې شريك نۀشو په دے خبره هغه ډير پريشانه وو. او دا ئے اووے چه زهٔ د رسول الله ﷺ سره په رومبى جنګ كښې غائب پاتے شوم. اوس كۀ چرے الله تعالىٰ په بله يوه غزا كښې ما د هغوى سره كړى نو الله به اووينى ما لره چه زهٔ څهٔ كوم. او ويريدو ددے نه سوا د نورو وئيلو نه (يعنى د نورے څهٔ دعوے كولو نه چه زهٔ به داسے اوكړم داسے اوكړم څكه چه كيدے شى اوئے نۀ كړم او بيا دروغژن شم) بيا هغوى د رسول الله ﷺ سره د اُحد جنګ له لاړو نو سعد بن معاذ ورله مخے له راغے او ورته ئے اووے. اے ابو عمرو چرته ځے (دا كنيت وو د انس بن النضر بن ضمضم انصارى رضی الله عنه چه د انس بن مالك تره وو) هغوى اووے افسوس د اُحد د طرفنه په ما باندے د جنت هوا راځى. انس وائى بيا هغه اوجنګيدو د كافرو سره تردے پورے چه شهيد شو. (د جنګ نه پس چه اوكتلے شو) نو د هغهٔ په بدن باندے څهٔ دپاسه اتيا زخمونه وو د تورے او د غشو د هغوى خور يعنى خما ترور ربيع بنت نضر وائى ما خپل رور نۀ پيژندلو مګر د هغوى د ګوتو د بندونو د ليدلو نه (څكه چه تول د بدن ئے زخمونو سورے سورے كړے وو) او دا آيت نازل شو چه: رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ الخ (يعنى هغه سړے چه هغوى پوره كړو خپل اقرار د الله سره. څنو خو خپل كار پوره كړلو او څنے انتظار كوى. صحابۀ وويل چه دا آيت د هغوى او د هغوى د ملګرو په باره كښې نازل شوے دے.

بَاب مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ

باب: كوم سړے چه اوجنګيږى ددے دپاره چه د الله تعالىٰ دين غالب شى نو هغه د الله تعالىٰ په لاره كښې جنګيږى

عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ أَنَّ رَجُلاً أَعْرَابِيًّا أَتَى

د ابوموسىٰ اشعرى رضی الله عنه نه روايت دے چه يو باندېچى د رسول الله ﷺ

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُذْكَرَ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ فَمَنْ فِي سَبِيلِ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ أَعْلَى فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ

خواله راغے. او عرض ئے اوکړو یا رسول الله! یو سړے جنګیږی د لوټ دپاره. او یو سړے جنګیږی د نوم دپاره. او یو سړے جنګیږی د خپلے مرتبے د ښودلو دپاره. نو د الله تعالی په لاره کښی جنګیدل کوم یو دی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. څوك چه جنګیږی دد ے دپاره چه د الله تعالی کلمه اوچته شی نو هغه د الله تعالی په لاره کښی دی.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ يُقَاتِلُ شَجَاعَةً وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً وَيُقَاتِلُ رِيَاءً أَيُّ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ

د ابوموسیٰ رضی نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ نه د هغه سړی په باره کښی تپوس اوکړے شو چه هغه جنګیږی د بهادرئ ښودلو دپاره یا جنګیږی د خپل قوم او خاندان د عزت دپاره یا جنګیږی د ځان ښودلو دپاره. نو کوم یو جنګیدل دپاره د الله دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك چه دد ے دپاره جنګیږی چه د الله تعالی کلمه اوچته شی هغه د الله په لاره کښی جنګیدل دی.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ الرَّجُلُ يُقَاتِلُ مِنَّا شَجَاعَةً فَذَكَرَ مِثْلَهُ

د ابوموسیٰ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ خواله راغلو او عرض مو اوکړو یا رسول الله! یو سړے جنګیږی زمونږ نه د بهادرئ د ښودلو دپاره. مخکښی د پورتنی حدیث پشان ذکر کړو.

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رضی أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْقِتَالِ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَقَالَ الرَّجُلُ يُقَاتِلُ غَضَبًا وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً قَالَ فَرَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيْهِ وَمَا رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيْهِ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ قَائِمًا فَقَالَ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ

د ابوموسیٰ اشعری رضی نه روایت دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه د الله په لاره کښی جنګ کوم یو دے. نو اوئے وئیل چه سړے جنګ کوی د غصے نه او جنګ کوی د خپل قوم په طرفدارئ کښی. پس حضرت خپل سر اوچت کړو دد ے وجے نه چه هغه ولاړ وو (او د حضرت ناست وو) حضرت اوفرمائیل څوك چه جنګ کوی د دے دپاره چه د الله تعالی کلمه غالبه شی (یعنی توحید غالب شی په شرك باندے او کفر ختم شی) نو هغه جنګ د الله په لاره کښی دے.

بَاب مَنْ قَاتَلَ لِلرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اسْتَحَقَّ النَّارَ

باب: کوم سړے چه د ځان ښودلو دپاره جنګیږی هغه جهنمی دے

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ تَفَرَّقَ النَّاسُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ لَهُ نَاتِلُ أَهْلِ الشَّامِ أَيُّهَا الشَّيْخُ حَدِّثْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ جَرِيءٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ عَالِمٌ وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ هُوَ قَارِئٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا

د سلیمان بن یسار نه روایت دے وائی چه خلق د ابوهریرهؓ د خوانه جدا شول نو ناتل اووے چه د شام والا ؤ نه وو (ناتل بن قیس خرامی دا د فلسطین اوسیدونکے وو او دے تابعی دے. دهٔ پلار صحابی وو) اے شیخه ما ته یو حدیث بیان کړه کوم چه تا د رسول اللهؐ نه اوریدلے وی. ابوهریرهؓ اووے بنه ده ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. رومبئ په قیامت کښ چه د چا فیصله وی هغه به یو سړے وی چه شهید شوے وی. هر کله چه هغه د الله تعالی خواته راوستے شی نو الله تعالی به خپل نعمت هغهٔ ته اوښائی او هغه به ئے اوپیژنی. نو الله تعالی به ترے تپوس اوکړی تا دد ے دپاره څهٔ عمل کړے دے. هغه به اووائی زهٔ جنګیدلے یم ستا په لاره کښ تردے پورے چه شهید شوے یم الله به اوفرمائیی تهٔ دروغ وائے تهٔ جنګیدلے ددے دپاره چه خلق ما ته بهادر اووائی. او تا ته بهادر وئیلے شوے دے بیا به حکم اوشی چه دے پرمخے په راښکودو په جهنم کښ اوغورځوئ او یو سړے به وی چه هغه به ددین علم ښودلے وی او قران به لوستلے وی. هغه به د الله تعالی په حضور کښ حاضر کړے شی. هغه به ورته خپل نعموتونه اوښائی. هغه به ئے اوپیژنی. بیا به ورته اووئیلے شی چه تا ددے دپاره څهٔ عمل کړے دے؟ هغه به اووائی چه ما علم کړے وو او نورو ته مے ایزده کولو. او قران مے لوستلو. الله تعالی به ورته اوفرمائی تهٔ دروغ وائے. تا ددے دپاره علم کړے وو چه خلق تا ته عالم اووائی او قران د ددے دپاره لوستلو چه خلق تا ته قاری اووائی. تا ته عالم او قاری په دنیا کښ وئیلے شوی دی بیا به حکم اوکړی دهٔ لره پرمخے په راښکودو جهنم ته اوغورځوئ. او یو سړے به وی چه دهٔ ته الله تعالی مال ورکړے وو او دهٔ په هره طریقه لګولے وو. هغه به د الله

قَالَ مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلاَّ أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ هُوَ جَوَادٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ

تعالی خواله راوستے شی. الله تعالی به ورته خپل نعمتونه اوښائی او هغه به اوپیژنی. الله تعالی به ترے تپوس اوکړی تا ددے دپاره څۀ عمل کړے دے؟ هغه به اووائی ما یوه لار د مال خرچ کولو چه په هغے کښې مال خرچ کول غوره وو ستا دپاره نۀ ده پریخے. الله تعالی به ورته اوفرمائی تۀ دروغژن یې تا خو ددے دپاره خرچ کولو چه خلق تاته سخی اووائی نو تا ته خلقو په دنیا کښې سخی وئیلے دے بیا به حکم اوشی دۀ له په مخے په راښکودو جهنم ته اوغورځوی[1]

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ تَفَرَّجَ النَّاسُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ لَهُ نَاتِلٌ الشَّامِيُّ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ خَالِدِ بْنِ الْحَارِثِ

د سلیمان بن یسار نه روایت دے چه خلق د ابوهریرة نه جدا شونو هغوی ته ناتل شامی اووے. مخکښې د پورتنی حدیث پشان قصه بیان کړه.

بَاب بَيَانِ قَدْرِ ثَوَابِ مَنْ غَزَا فَغَنِمَ وَمَنْ لَمْ يَغْنَمْ

باب: کوم سړے چه جهاد اوکړی او د غنیمت مال حاصل کړی د هغۀ ثواب د هغۀ نه کم دے کوم چه جهاد اوکړی او مال غنیمت حاصل نۀ کړی

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ غَازِيَةٍ تَغْزُو فِي

د عبد الله بن عمرو نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم لښکر چه د الله په لاره کښې اوجنګیږی او د لوټ مال اوګټی هغوی

[1] نو جهاد او علم او صدقه او د قران تلاوت دومره لوئے لوئے عبادتونه به ضائع کړے شی. الله د ټول مسلمانان سره زمونږ د ریا او خان ښودلو نه اوساتی ریا وغیره څۀ بده بلا ده چه ټول محنت او مشقت بے خایه کوی. د چا قول دے چه نیکی برباد ګناه لازم مؤمن له پکار دی کۀ لږ عمل وی یا ډیر خو چه خاص د الله د رضا دپاره یې کوی. د ښودنے په خیال یې هیڅ کله نۀ کوی. ځنے د الله بندیګانو د ریا د ذریلے کټ کولو دا تدبیر کړے دے چه په ظاهر خلق هغوی فاسق یا فاجر اوګڼړی خو په حقیقت کښې هغه فسق نۀ وی. خو هغوی دا غواړی چه خلق هغوی لره ښۀ اونۀ ګڼړی. اوس چه هغه څۀ عمل کوی الله په هغے خبر دے او د هغے مطابق به ورته ثواب میلاویږی غرض دا چه کۀ د نیکۍ عمل د خلقو په مخکښې اوکړے شی نو هغه بده نۀ ده په دے شرط چه نیت یې خلقو ته د ښودنے دپاره نۀ وی او خالص د الله رضامندی یې مقصود وی. او حتی المقدور د خپلو نیکو عملونو پټول غوره دی په دے شرط چه د هغے په پټولو کښې یې څۀ قباحت نۀ وی. مثلا فرض مونځ نۀ شی پټولے. ځکه چه په هغے کښې جماعت ضرور دے. لیکن نفل مونځ صدقه او تهجد او عبادات په پټه سره ادا کولے شی. او صدقه هغه غوره ده چه په ښی لاس یې ورکړی او ګس لاس ترے خبر نۀ شی.

سَبِيلِ اللهِ فَيُصِيبُونَ الْغَنِيمَةَ إِلَّا تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أَجْرِهِمْ مِنَ الْآخِرَةِ وَيَبْقَى لَهُمُ الثُّلُثُ وَإِنْ لَمْ يُصِيبُوا غَنِيمَةً تَمَّ لَهُمْ أَجْرُهُمْ

ته دوه حصے ثواب په دنيا كښ ميلاؤ شو. اوس به ورته په آخرت كښ يوه حصه ميلاويږي. او څوك چه لوټ نۀ گټي نو هغوى ته به پوره ثواب په آخرت كښ ميلاويږي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ غَازِيَةٍ أَوْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فَتَغْنَمُ وَتَسْلَمُ إِلَّا كَانُوا قَدْ تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أُجُورِهِمْ وَمَا مِنْ غَازِيَةٍ أَوْ سَرِيَّةٍ تُخْفِقُ وَتُصَابُ إِلَّا تَمَّ أُجُورُهُمْ

د عبد الله بن عمروؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه يو لښكر يا د فوج ټكړه جهاد اوكړي او غنيمت حاصل كړي. او سلامت پاتے شي نو هغوى ته د آخرت د ثواب نه د دريمے حصے په دنيا كښ ميلاؤ شوے. او كوم لښكر يا د فوج ټكړه چه خالي لاس راشي او نقصان اوچت كړي (يعني زخمي شي يا اووژلے شي) نو هغوى ته به په آخرت كښ پوره ثواب ميلاويږي[1].

بَاب قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ

باب : د هر عمل ثواب په نيت باندے وي

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ

د حضرت عمرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د عملونو اعتبار په نيت سره دے او د بنده دپاره هم هغه دي د څۀ چه هغه نيت كړے وي. پس هغه چا چه د اللهؒ او د هغۀ د رسولؐ دپاره هجرت اوكړو نو د هغۀ هجرت د اللهؒ او د هغۀ د رسولؐ دپاره دے. او چا چه هجرت د دنيا د گټلو يا د ښځې د وادۀ كولو دپاره وي: نو د هغۀ هجرت هم د دغے دپاره دے[2].

---

[1] نوويؒ وئيلي دي مطلب د حديث دا دے چه مجاهدين هر كله چه سلامت پاتے شي او لوټ حاصل كړي. نو د هغوى ثواب به په نسبت د هغه مجاهدينو كم وي چه هغه سلامت پاتے نۀ شي يا سلامت پاتے شي خو غنيمت حاصل نۀ كړي. او لوټ لكه چه بدل دے د ثواب د يوے حصے نو لوټ هم په اخر كښ داخل دے. او دا د احاديث صحيحه موافق دے. او دد ے په خلاف كښ حديث صحيح او صريح نۀ دے راغلے

[2] دد ے حديث قصه داده چه يو سړي د يوے ښځے دپاره چه د هغے نوم أُم قيس وو د مدينے په طرف هجرت اوكړو. خلقو دد ے حال حضرت ﷺ ته بيان كړو پس حضرت ﷺ دا حديث اوفرمائيلو امام نووي وائي چه دد ے حديث په عظمت او زياتو فائدو باندے عالمانو اتفاق كړے دے امام شافعيؒ وائي چه دا حديث دريمه حصه ده د اسلام. او شافعيؒ وئيلي دي چه د فقهې په اويا بابونو كښ

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ بِإِسْنَادِ مَالِكٍ وَمَعْنَى حَدِيثِهِ وَفِي حَدِيثِ سُفْيَانَ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ عَلَى الْمِنْبَرِ يُخْبِرُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يحيىٰ بن سعيد د مالك (راوی) په اسناد سره د هغهٔ د حديث هم معنىٰ روايت كړے دے. او د سفيان په حديث كښې دی چه اوريدلی دی ما د حضرت عمرؓ نه هغهٔ په منبر باندے بيان كوؤ د رسول اللهﷺ نه

بَاب اسْتِحْبَابِ طَلَبِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى

باب: د اللهؐ په لار كښې د شهادت غوښتل مستحب دی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الشَّهَادَةَ صَادِقًا أُعْطِيَهَا وَلَوْ لَمْ تُصِبْهُ

د انسؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی څوك چه د زړهٔ په صدق سره د شهادت آرزو كوی هغهٔ ته د شهادت ثواب ميلاويږی اگر كهٔ شهيد نهٔ شی.

عَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍؓ حَدَّثَهُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَأَلَ اللهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ أَبُو الطَّاهِرِ فِي حَدِيثِهِ بِصِدْقٍ

د سهل بن حنيفؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی څوك چه د زړهٔ د اخلاصه د اللهؐ نه د شهادت تمنا كوی اللهؐ به هغهٔ ته د شهيدانو درجه وركوی اگر كهٔ هغه پخپله بستره باندے وفات شی.

د دے حديث دخل دے او څلورمه حصه وئيلے ده. او عبد الرحمٰن بن مهدیؒ وئيلی دی څوك چه يو كتاب لره تصنيف كوی نو دا حديث د ورله په شروع كښې ليكی. د دے دپاره چه طالب ته د نيت د صحيح كولو دپاره خبردارے وی او بخاری هم دغسے وئيلی دی. او دے حديث لره ئے په خپل كتاب كښې اووهٔ ځايه نقل كړے دے. حفاظو وئيلی دی چه دا حديث صرف د حضرت عمر نه صحيح دے. او د حضرت عمرؓ نه هيچا نهٔ دے نقل كړے سوا د علقمه بن وقاص نه او د علقمه نه هم هيچا نهٔ دے نقل كړے سوا د محمد ابراهيم تيمی نه او د محمد نه هم هيچا نهٔ دے نقل كړے سوا د يحيىٰ بن سعيد انصاری نه. البته د يحيىٰ نه دا حديث مخكښې نور د دوؤ سوو سرو نه زياتو دے حديث لره د يحيىٰ نه نقل كړے دے. او خكه خو اكثرو امامانو دے حديث ته متواتر نهٔ دے وئيلے. اگر كهٔ په خاص او عامو كښې مشهور دے. خكه چه په شروع د اسناد كښې ئے تواتر نشته دے. او په دے حديث كښې يو لطف دادے چه درے واړه تابعی دے لره د يو بل نه روايت كوی. يحيىٰ، او محمد، او علقمه. جمهور علماؤ وئيلی دی چه انّما د حصر دپاره دے نو مطلب د حديث دادے چه عمل به په هغه صورت كښې معتبر وی هر كله چه ئے نيت وی. او بغير د نيت نه به لغوه وی. او په دے كښې دليل دے. چه اودس او غسل او تيمم بغير د نيت نه صحيح نهٔ دی. دغه شان مونځ او زكوٰة او روژه او حج او اعتكاف او ټول عبادتونه ليكن د پليتئ په وينځلو كښې نيت شرط نهٔ دے انتهىٰ مختصراً

بَاب ذَمِّ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالْغَزْوِ

باب: کوم سړے چه بغیر د جهاد نه مړ شی او بغیر د جهاد د نیت نه د هغهٔ بد والے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ قَالَ ابْنُ سَهْمٍ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ فَنُرَى أَنَّ ذَلِكَ كَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ.

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. څوك چه مړ شی او جهاد ئےنهٔ وی کړے نهٔ ئے نیت د جهاد کړے وی. هغه د منافقانو په طور مړ شو. عبد الله بن مبارك وائی چه مونږ خیال کوؤ چه دا حدیث د رسول الله ﷺ د زمانے سره تعلق لری[1].

بَاب ثَوَابِ مَنْ حَبَسَهُ عَنِ الْغَزْوِ مَرَضٌ أَوْ عُذْرٌ آخَرُ

باب: کوم سړے چه جهاد نهٔ شی کولے د بیمارئ یا د عذر نه د هغهٔ ثواب

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ فَقَالَ إِنَّ بِالْمَدِينَةِ لَرِجَالًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ حَبَسَهُمُ الْمَرَضُ

د جابرؓ نه روایت دے چه مونږ په یو جنګ کښې د رسول الله ﷺ سره وو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. په مدینه کښې څهٔ خلق دی هر کله چه تاسو څئ یا تیر شئ تاسو په یوے وادئ (یعنی د هغوی هم دغه ثواب کیږی کوم چه ستاسو کیږی) هغه د بیمارئ په وجه ستاسو سره نهٔ شی راتلے.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ وَكِيعٍ إِلَّا شَرِكُوكُمْ فِي الْأَجْرِ

د اعمش نه په دغه اسناد سره روایت دے. مګر د وکیع په حدیث کښې دی مګر هغوی شریك دی ستاسو سره په اجر کښې.

بَابُ فَضْلِ الْغَزْوِ فِي الْبَحْرِ

باب: په دریاب کښې د جهاد کولو غوره والے

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ فَتُطْعِمُهُ وَكَانَتْ أُمُّ حَرَامٍ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ فَدَخَلَ عَلَيْهَا رَسُولُ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ به د ام حرام بنت ملحان خواله تلو. (ځکه چه هغه د حضرت ﷺ محرمه وه یعنی رضاعی ترور یا د حضرت ﷺ د پلار یا د نیکهٔ ترور) هغې به په حضرت ﷺ غله خوروله او ام حرام د عباده بن صامت په نکاح کښې وه. یو ورځ

---

[1] او خلقو اووے دا حدیث عام دے او مطلب دادے چه داسے سړے د منافقانو مشابه شو. لکه ځنګه چه منافق په کور کښې ناست وی او د جهاد نه خبر نهٔ وی. دغه شان دهٔ هم اوکړل او د جهاد پریخودل منافقت دے. انتهی

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَأَطْعَمَتْهُ ثُمَّ جَلَسَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ فَنَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ قَالَتْ فَقُلْتُ مَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللهِ يَرْكَبُونَ ثَبَجَ هٰذَا الْبَحْرِ مُلُوكًا عَلَى الْأَسِرَّةِ أَوْ مِثْلَ الْمُلُوكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ يَشُكُّ أَيَّهُمَا قَالَ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَدَعَا لَهَا ثُمَّ وَضَعَ رَأْسَهُ فَنَامَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ قَالَتْ فَقُلْتُ مَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَا قَالَ فِي الْأُولَى قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ أَنْتِ مِنَ الْأَوَّلِينَ فَرَكِبَتْ أُمُّ حَرَامٍ بِنْتُ مِلْحَانَ الْبَحْرَ فِي زَمَنِ مُعَاوِيَةَ فَصُرِعَتْ عَنْ دَابَّتِهَا حِينَ خَرَجَتْ مِنَ الْبَحْرِ فَهَلَكَتْ

رسول الله ﷺ د هغوی خواله لاړه هغوی په حضرت ﷺ غله اوخوروله کیېنناسته د حضرت ﷺ په سر کښې ئې سپږے کتلے او رسول الله ﷺ اوده شو. بیا حضرت ﷺ په خندا کښې رابیدار شو. ام حرام ترے تپوس اوکړو چه تاسو ولے خندا کوئ یا رسول الله؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل څه د امت څه خلق خما مخے ته حاضر کړے شو د الله په لاره کښې د جهاد په واسطه په دے شان د دریاب په مینځ کښې سواره شوی وو لکه څنګه چه بادشاه په تخت ناست وی یا د بادشاهانو په شان په تخت ناست دے. ما عرض اوکړو یا رسول الله! الله ته سوال اوکړئ چه ما هم د هغوی نه حساب کړی. حضرت دعا اوکړه او بیائے سر مبارک کیښودو اوده شو. بیا په خندا راویښ شو. ما ترے تپوس اوکړو تاسو ولے خاندئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل. څه خلق خما د امت خما په مخکښې حاضر کړے شو چه د جهاد دپاره روان وو. او بیان ئې کړه هغسے لکه چه پورته تیر شو. ما اووے یا رسول الله ﷺ دعا اوغواړئ د الله تعالی نه چه الله ما هم د هغه خلقو نه کړی. حضرت ﷺ اوفرمائیل ته د رومبو خلقو نه شوے ئې. بیا ام حرام د ملحان لور د معاویه په زمانه کښې سوره شوله په دریاب کښې (د جزیره قبرص د فتح کولو دپاره. کوم چه د یارلس سوه کاله پس سلطان روم انګریزانو ته حواله کړو) او د څناور نه راالوغورځیده. هر کله چه دریاب نه راووته نو مړه شوله[1]

[1] نووی وائی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه سپږے وژل جائز دی. دغه شان د محرم سر مسحه کول د هغه سره خانله کیدل او د هغه په خوا کښې اوده پدل جائز دی. او په دے حدیث کښې د حضرت ﷺ څو معجزے ذکر دی. یو خو د خپل امت د ترقئ پیشن ګونی دویم دا چه هغه به په دریاب کښې جهاد کوی. دریم دا چه ام حرام به تر هغے پورے ژوندئ وی او د هغوی سره به شهید کیږی او دا جهاد د حضرت عثمان په خلافت کښې شوے وو د معاویه په سردارئ کښې یا د معاویه په حکومت کښې. مګر اکث

عَنْ أُمِّ حَرَامٍ وَهِيَ خَالَةُ أَنَسٍ قَالَتْ أَتَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ عِنْدَنَا فَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقُلْتُ مَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي قَالَ أُرِيتُ قَوْمًا مِنْ أُمَّتِي يَرْكَبُونَ ظَهْرَ الْبَحْرِ كَالْمُلُوكِ عَلَى الأَسِرَّةِ فَقُلْتُ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ فَإِنَّكِ مِنْهُمْ قَالَتْ ثُمَّ نَامَ فَاسْتَيْقَظَ أَيْضًا وَهُوَ يَضْحَكُ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ فَقُلْتُ ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ أَنْتِ مِنَ الأَوَّلِينَ قَالَ فَتَزَوَّجَهَا عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ بَعْدُ فَغَزَا فِي الْبَحْرِ فَحَمَلَهَا مَعَهُ فَلَمَّا أَنْ جَاءَتْ قُرِّبَتْ لَهَا بَغْلَةٌ فَرَكِبَتْهَا فَصَرَعَتْهَا فَانْدَقَّتْ عُنُقُهَا

د أم حرامؓ نه روايت دے او دا ترور ده د انسؓ. هغوی اووے چه زمونږ خواله نبی ﷺ يو ورځ تشريف راوړو او زمونږ کره ئے د غرمے آرام اوکړو. هر کله چه حضرت ﷺ راويخ شو نو خندل ئے. نو ما عرض اوکړو چه يا رسول اللهﷺ تاسو په څۀ وجه خندل خما مور او پلار د په تا قربان وی نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه ما ته د خپل امت نه څۀ خلق داسے اوښودلے شو چه د سمندر په خيته به داسے سوارۀ وی څنګه لکه چه بادشاه په خپل تخت باندے نو ما عرض اوکړو. تاسو د الله تعالی نه سوال اوکړئ چه ما د هغوی نه کړی. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل تۀ د هغوی نه ئے. هغوی اووے حضرت ﷺ بيا اودۀ شو راويخ شو او خندل ئے نو ما د هغے وجه اوتپوسله نو حضرت ﷺ اولنے خبره دوباره اوکړه نو ما اووے تاسو د اللهؐ نه سوال اوکړئ چه ما هم د هغوی نه کړی. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل. تۀ د اولنو نه ئے. راوی وائی چه د هغوی سره عباده بن صامت نکاه اوکړه روستو د هغے نه او هغه په سمندری جهاد کښ شريك شو او هغوی ئے د خان سره بوتلل هر کله چه هغه د کشتئ نه کوزه شوه د سمندر په غاړه راغله نو يو قچر د هغوی خواله راوستے شو او هغوی په هغۀ باندے سوره شوه نو هغه قچر هغے لره اوغورځوله او د هغے څټ مات شو (او شهيده شوه)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ عَنْ خَالَتِهِ أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ أَنَّهَا قَالَتْ نَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَرِيبًا مِنِّي ثُمَّ اسْتَيْقَظَ يَتَبَسَّمُ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ

حضرت انس بن مالكؓ د خپلے ترور ام حرام بنت ملحان نه روايت کړے دے. هغوی اورېدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه حضرت ﷺ يو خل خما په خوا کښ اوده شو. بيا په نرئ خندا کښ راويخ شو. ما عرض اوکړو يا رسول اللهﷺ تاسو ولے خاندئ: حضرت ﷺ اوفرمائيل

اهل سير رومبے قول اختياره وی دد ے حديث نه دا خبره هم معلومه شوه چه ښځه او سړے دواړه په درياب کښ سورلئ کولے شی او خپل خاوند يا محرم سره جهاد ته تلے شی د خدمت لپاره. انتهی مختصراً

اللهِ مَا أَضْحَكَكَ قَالَ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ يَرْكَبُونَ ظَهْرَ هٰذَا الْبَحْرِ الْأَخْضَرِ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ

څماد امت څۀ خلق څما مخې ته راوستے شو چه سوارۀ شوی وو په هغه شین دریاب باندے. بیائے بیان کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته تیر شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ أَتَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَةَ مِلْحَانَ خَالَةَ أَنَسٍ فَوَضَعَ رَأْسَهُ عِنْدَهَا وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ إِسْحٰقَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ وَمُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ

د انس بن مالک نه روایت دے هغوی اووے چه راغے رسول الله ﷺ د بنت ملحان خواله چه ترور وه د انس ؓ. حضرت ﷺ خپل سر د هغوی په خوا کښې کیخودو. مخکښې هغه شان حدیث بیان کړو څنګه چه د اسحاق بن طلحه او د محمد بن یحیی بن حبان نه (پورته) بیان شو.

بَابُ فَضْلِ الرِّبَاطِ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

باب : د الله ؓ په لار کښې څوکۍ او د پهرے ورکولو غوره والے

عَنْ سَلْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ وَإِنْ مَاتَ جَرَى عَلَيْهِ عَمَلُهُ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُهُ وَأُجْرِيَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ وَأَمِنَ الْفَتَّانَ

د سلمان ؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. د الله په لاره کښې یوه شپه ورځ پهره څوکۍ کول د یو میاشتی د روژو نیولو او عبادت کولو نه غوره دی او کچرے مړ شی پکښې نو د هغۀ دا کار به برابر جاری وی، یعنی د هغۀ ثواب به د مرګ نه پس هم نۀ اودریږی بلکه په مخه به زیاتیږی دا خاص ده دد ے عمل سره چه د مجاهدینو څوکیداری ده) او د هغۀ رزق به په هغۀ باندے جاری کړے شی (کوم چه شهیدانو ته میلاویږی) او په آمن به وی د فتنو نه

عَنْ سَلْمَانَ الْخَيْرِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ اللَّيْثِ عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى

سلمان د رسول الله ﷺ نه د لیث د ایوب د حدیث هم معنی حدیث روایت کړو. (یعنی د پورتنی حدیث پشان)

بَابُ بَيَانِ الشُّهَدَاءِ

باب : د شهیدانو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيقِ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. یو سړے روان وو. هغۀ په لاره کښې د غنو یوه څانګه اولیده. هغه ئے د لارے نه لرے کړه. الله د هغې په بدله کښې هغه اوبخلو. او حضرت ﷺ فرمائیلی دی

فَأَخَّرَهُ فَشَكَرَ اللهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ وَقَالَ الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ الْمَطْعُونُ وَالْمَبْطُونُ وَالْغَرِقُ وَصَاحِبُ الْهَدْمِ وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

شهيد پنځهٔ قسم دے. څوک چه په طاعون (دا يوه هغه وبا چه عام شى لكه په دے زمانه كښ طاعون په قړاو دست سره راځى) سره مړ شى يعنى د ګيډے د تكليف نه مړ شى. (لكه د ستونه يا پيچش يا استسقاء) او څوك چه په اوبو كښ ډوب شى او مړ شى. يا د څهٔ درونډ خيز د لاندے مړ شى. او څوك چه د الله په لاره كښ اووژلے شى[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَعُدُّونَ الشَّهِيدَ فِيكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيدٌ قَالَ إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِي إِذًا لَقَلِيلٌ قَالُوا فَمَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُونِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيدٌ قَالَ ابْنُ مِقْسَمٍ أَشْهَدُ عَلَى أَبِيكَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّهُ قَالَ وَالْغَرِيقُ شَهِيدٌ

د حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. تاسو شهيد چا ته وايئ؟ هغوى اووے يا رسول اللهؐ څوك چه د الله تعالى په لاره كښ اووژلے شى هغه شهيد دے. حضرت ﷺ اوفرمائيل بيا خو به خما په امت كښ ډير كم شهيدان وى. خلقو عرض اوكړو يا رسول اللهؐ بيا شهيدان كوم كوم خلق دى. حضرت ﷺ اوفرمائيل څوك چه د الله په لاره كښ اووژلے شى هغه شهيد دے. او څوك چه د الله په لاره كښ مړ شى (مثلًا حج يا جهاد له په تلو كښ) هغه هم شهيد دے څوك چه په طاعون (وبا) كښ مړ شى هغه هم شهيد دے. او څوك چه د ګيډے د تكليف نه مړ شى هغه هم شهيد دے. او څوك چه ډوب شى او مړ شى هغه هم شهيد دے.

عَنْ سُهَيْلٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِهِ قَالَ سُهَيْلٌ قَالَ عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مِقْسَمٍ أَشْهَدُ عَلَى أَخِيكَ أَنَّهُ زَادَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ وَمَنْ غَرِقَ فَهُوَ شَهِيدٌ

د سهيل نه په دغه اسناد سره روايت دے مګر په دے حديث كښ دادى چه سهيل اووے عبيد الله بن مقسم اووے چه زهٔ ستا په پلار ګواهي وركوم چه هغوى په حديث كښ دا زياته كړے ده. او څوك چه ډوب شى مړ شى هغه شهيد دے.

[1] نوويؒ وئيلى دى ددوى نه سوا نور خلق هم په نورو احاديثو كښ مذكور دى لكه څوك چه د ګردے د درد نه مړ شى او څوك چه اوسوزى او مړ شى يا ښځه د بچى په پيدائش كښ مړه شى. يو سړے د خپل مال په سر مړ شى يا د مال په څوكئ كولو كښ مړ شى يا يو سړے د خپل بال بچ په بچ كولو كښ مړ شى. او مراد د دوى د شهادت نه دادے چه په آخرت كښ به دوى ته ثواب د شهيدانو ميلاويږى. ليكن دوى له به غسل وركولے شى او په دوى باندے به مونځ لوستلے شى. البته څوك چه د الله تعالى په لاره كښ شهيد شى هغه ته غسل نه شى وركولے او د هغهٔ بيان په كتاب الايمان كښ تير شوے دے.

عَنْ سُهَيْلٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مِقْسَمٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ وَزَادَ فِيهِ وَالْغَرِقُ شَهِيدٌ

د سهيل نه په دغه اسناد سره په حديث کښې دي چه راوي وئيلي دي چه ما ته عبيد الله بن مقسم د ابوصالح نه خبر راکړے دے او په دے کښې دا زياته کړے ده چه ډوب شي او مړ شي شهيد دے.

عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ قَالَتْ قَالَ لِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ بِمَ مَاتَ يَحْيَى بْنُ أَبِي عَمْرَةَ قَالَتْ قُلْتُ بِالطَّاعُونِ قَالَتْ فَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الطَّاعُونُ شَهَادَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ

د حفصه بنت سيرين نه روايت دے چه انس بن مالك نه تپوس اوکړو چه يحيٰى بن ابي عمره په کومه بيمارئ سره وفات شو. ما اووے په طاعون سره. هغوي اووے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د طاعون مرګ شهادت دے د هر مسلمان دپاره[1].

عَنْ عَاصِمٍ فِي هٰذَا الإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ

د عاصم نه هم دغه اسناد سره روايت دے.

بَاب فَضْلِ الرَّمْيِ

باب : د غشو د ويشتو ثواب

عَنْ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ

د عقبه بن عامر نه روايت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو. الله تعالىٰ فرمائي . تيار کړئ د کافرو دپاره زورلره. د زور نه مراد غشي ويشتل دي د زور نه مراد غشي ويشتل دي د زور نه مراد غشي ويشتل دي[2].

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمْ أَرَضُونَ وَيَكْفِيكُمُ اللهُ فَلَا يَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَلْهُوَ بِأَسْهُمِهِ

د عقبه بن عامر نه روايت دے ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلي ئے وو. په ځو ورځو کښې به ځو ملکونه ستاسو په لاسونو باندے فتح شي. او الله تعالىٰ ستاسو دپاره کافي دے بيا د يو هم ستاسو نه د خپل غشي لوبه نه پريږدي. (يعني غشي د په نخښه باندے ويشتل شروع کړي).

---

[1] خما درے رونړو يعني مولوي حاجي واعظ مشهور مولوي بديع الزمان صاحب او مولوي حافظ حاجي فريد الزمان او مولي حاجي منعيذ الزمان د حيدرآباد په ښار کښې په طاعون مرض سره انتقال کړے دے. دوي مطعون هم مړهٔ شو او مبطون هم. الله تعالىٰ د هغوي له د شهادت بدله ورکړي او زمونږ د هغوي ملاقات د په جنت کښې نصيب کړي. کوم مسلمانان چه د دے ترجمے لره لولي هغه د د الله دپاره مونږ خلور واړه رونړه د خپلو خير په دُعاګانو کښې نهٔ هيروي.

[2] نووي وئيلي دي د جهاد دپاره د غشي ويشتل د ايزده کولو غوروالے دد ےحديث نه اوځي. او په دے باندے قياس کول پکار دي د هرے يوے وسلے مشق لره. او د اس سورلي او منډه وغيره چه د جهاد په نيت سره وي. انتهىٰ

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

عقبه بن عامرؓ د نبي کریم ﷺ نه دغسې حدیث روایت کړے دے.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ شِمَاسَةَ أَنَّ فُقَيْمًا اللَّخْمِيَّ قَالَ لِعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ تَخْتَلِفُ بَيْنَ هٰذَيْنِ الْغَرَضَيْنِ وَأَنْتَ كَبِيرٌ يَشُقُّ عَلَيْكَ قَالَ عُقْبَةُ لَوْلَا كَلَامٌ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ أُعَانِيهِ قَالَ الْحَارِثُ فَقُلْتُ لِابْنِ شِمَاسَةَ وَمَا ذَاكَ قَالَ إِنَّهُ قَالَ مَنْ عَلِمَ الرَّمْيَ ثُمَّ تَرَكَهُ فَلَيْسَ مِنَّا أَوْ قَدْ عَصَى

د عبد الرّحمٰن شماسه نه روایت دے چه فقیم لخمي عقبه بن عامرؓ ته اووے. ته په هغه دواړه نخښنو کښې ځے راځے او بوډا ضعیف ئے تا ته به ډیره ګرانه وي. عقبه اووے که چرے ما د رسول الله ﷺ نه دا یوه خبره نه وے اوریدلے نو دا برداشت د تکلیف به مے نه وو کړے. حارث وائي ما د ابن شماسه نه تپوس اوکړو هغه څه خبره وه. هغوی اووے چه حضرت ﷺ فرمائیلي .څوک چه غشي ویشتل ایزده کړي او بیائے پریږدي هغه کس زمونږ نه نه دے یا ګنهګار دے.

بَاب قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ

باب : رسول الله ﷺ اوفرمائیل څما د امت یو تولګے به همیشه په حق ولاړ وي او د چا مخالفت به هغوی ته څۀ نقصان نۀ شي رسولے

عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ كَذٰلِكَ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ قُتَيْبَةَ وَهُمْ كَذٰلِكَ

د حضرت ثوبانؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي همیشه به څما د امت یو تولګے په حق باندے ولاړ وي. څوک به هغوی ته نقصان نۀ شي رسولے. تر دے پورے چه د الله تعالی حکم به راشي (یعني قیامت) او هغوی به په دغه حال کښې وي.

عَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَنْ يَزَالَ قَوْمٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى النَّاسِ حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ ظَاهِرُونَ

مغیرهؓ وئیلي دي ما اوریدلي دي چه رسول الله ﷺ فرمائیل. څما د امت یو جماعت به همیشه په خلقو غالب وي تر دے پورے چه د الله حکم راشي او هغوی به غالب وي[1].

د محدثینو فضیلت

[1] د الله تعالی د حکم نه یا خو قیامت مراد دے یا هغه هوا چه په هغے سره هر مؤمن مرشي. او دا جماعت امام بخاریؒ وئیلي دي چه اهل علم دي او امام احمد بن حنبلؒ وئیلي دي چه دا جماعت محدثین نه دي نو زۀ نۀ پوهیږم چه نور څوک دي. قاضي عیاض وئیلي دي

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَرْوَانَ سَوَاءً

مغيره بن شعبه وئيلي دي چه ما رسول الله ﷺ نه اوريدلي دے چه فرمائيل ئے د مروان د حديث پشان (يعنى د پورتنى حديث پشان)

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَنْ يَبْرَحَ هٰذَا الدِّينُ قَائِمًا يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ

د جابر بن سمرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا دين به برابر قائم وي او ددے دپاره به جنگيږي يو جماعت (د كافرانو او مخاليفينو سره) د مسلمانانو د قيامته پورے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلي ئے وو. هميشه به زما د امت يو جماعت په حق باندے جنگيږي د قيامته پورے.

عَنْ عُمَيْرِ بْنِ هَانِئٍ حَدَّثَهُ قَالَ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي قَائِمَةً بِأَمْرِ اللهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ أَوْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ ظَاهِرُونَ عَلَى النَّاسِ

د عمير بن هانى نه روايت دے چه ما د معاويه نه واوريدل چه په منبر باندے ئے وئيل ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلي ئے وو. هميشه به يو جماعت زما د امت د الله تعالى په حكم باندے قائم وي. خوك چه د هغوى خرابول غواړي نو د هغوى به هيڅ نه شي خرابولے. تر دے پورے چه د الله تعالى حكم رااورسي. او هغوى به غالب وي په خلقو باندے.

1

عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ ذَكَرَ حَدِيثًا رَوَاهُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ لَمْ أَسْمَعْهُ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ ﷺ عَلَى مِنْبَرِهِ حَدِيثًا غَيْرَهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ وَلَا تَزَالُ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ نَاوَأَهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د معاويه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د چا چه الله تعالى د نيكئ اراده اوكړي هغوى ته دين كښې پوهه وركړي او هميشه به يو جماعت د مسلمانانو په حق باندے جنګيږي او غالب به وي په هغه چا باندے چه ددوي سره جنګ كوي د قيامته پورے.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ شِمَاسَةَ الْمَهْرِيِّ قَالَ

د عبد الرحمن بن شماسه مهرى نه روايت دے چه زۀ د مسلمه بن

---

(1) مراد ترے اهل سنت والجماعت دي او خوك چه د محدثينو په مذهب باندے يقين لري. او مترجم وائي چه په نن زمانه كښې اهل سنت والجماعت ډير كم دي اوس د اهل بدعت او ضلالت هم ګنړه ده چه د خدائے پناه. خود حضرت ﷺ وينا خلاف نه شي كيدے.

كُنْتُ عِنْدَ مَسْلَمَةَ بْنِ مُخَلَّدٍ وَعِنْدَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ إِلاَّ عَلَى شِرَارِ الْخَلْقِ هُمْ شَرٌّ مِنْ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ لاَ يَدْعُونَ اللهَ بِشَيْءٍ إِلاَّ رَدَّهُ عَلَيْهِمْ فَبَيْنَمَا هُمْ عَلَى ذَلِكَ أَقْبَلَ عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ فَقَالَ لَهُ مَسْلَمَةُ يَا عُقْبَةُ اسْمَعْ مَا يَقُولُ عَبْدُ اللهِ فَقَالَ عُقْبَةُ هُوَ أَعْلَمُ وَأَمَّا أَنَا فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لاَ تَزَالُ عِصَابَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى أَمْرِ اللهِ قَاهِرِينَ لِعَدُوِّهِمْ لاَ يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ وَهُمْ عَلَى ذَلِكَ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ أَجَلْ ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ رِيحًا كَرِيحِ الْمِسْكِ مَسُّهَا مَسُّ الْحَرِيرِ فَلاَ تَتْرُكُ نَفْسًا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنَ الإِيمَانِ إِلاَّ قَبَضَتْهُ ثُمَّ يَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ عَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ

خلدون په خوا کښې ناست وم. د هغوی سره عبد الله بن عمرو بن العاصؓ هم وو. عبد الله اووے. قیامت به نۀ قائمیږی مګر په بدترین مخلوق د الله باندے. چه هغه به بدتروی د جاهلیت والاؤ نه د الله نه چه دڅۀ خبرے دُعا کوی الله به ئے هغوی له ورکوی خلق په دغه حال کښې وو چه عقبه بن عامر راغے مسلمه هغوی ته اووے. اے عقبه تا واوریده عبد الله څۀ وائی. عقبه اووے هغۀ ښما نه زیات پوهه دے. خو ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو ښما د امت یو جماعت به د الله تعالی په حکم باندے جنګیږی او په خپل دشمن باندے به غالب وی. او څوک چه د هغوی خلاف کوی هغوی ته څۀ نقصان نۀ شی رسولے. تردے پورے قیامت به راشی او هغه به په دغه حال کښې وی. عبد اللهؓ اووے بیشک (حضرتﷺ دغه شان فرمائیلی دی) لیکن بیا به الله تعالی یو هوا رااولیږی چه په هغے کښې به د مشکو پشان بوئ وی. او د ریښمو په شان به په بدن لګی هغه به نۀ پریږدی هیڅ یو سړی لره چه د هغۀ په زړۀ کښې د دانړے برابر ایمان وی مګر مړ به ئے کړی. ددے نه پس به تول بد (کافر) خلق پاتے شی. او په هغوی به قیامت شروع شی.

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَزَالُ أَهْلُ الْغَرْبِ ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ

د سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. همیشه به مغرب والا (یعنی عرب یا شام والا) په حق باندے غالب وی تردے پورے چه قیامت به قائم شی.

بَابُ مُرَاعَاةِ مَصْلَحَةِ الدَّوَابِّ فِي السَّيْرِ وَالنَّهْيِ عَنِ التَّعْرِيسِ فِي الطَّرِيقِ

باب : د ځناورو د ښیګړے خیال ساتل په سفر کښې او د شپے په لار کښې د راکوزیدو ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرْتُمْ فِي الْخِصْبِ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. هر کله چه تاسو سفر کوئ د ګیاه او د اوبو په زمانه کښې (یعنی په ښه موسم

فَأَعْطُوا الْإِبِلَ حَظَّهَا مِنَ الْأَرْضِ وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَأَسْرِعُوا عَلَيْهَا السَّيْرَ وَإِذَا عَرَّسْتُمْ بِاللَّيْلِ فَاجْتَنِبُوا الطَّرِيقَ فَإِنَّهَا مَأْوَى الْهَوَامِّ بِاللَّيْلِ

کښې هر کله چه ځناورو ته اوښهٔ او ګیا ډیره وی، نو اوښانو له خپله حصه ورکوئ د زمکے نه او هر کله چه سفر کوئ په قحط کښې نو په جلتئ ځئ په هغوی باندے (چه د قحط وهلی ملی نه زر اوځئ) او هر کله چه د شپے تاسو کوزیږئ نو د لارے نه په ډډه کوزیږئ[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا سَافَرْتُمْ فِي الْخِصْبِ فَأَعْطُوا الْإِبِلَ حَظَّهَا مِنَ الْأَرْضِ وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَبَادِرُوا بِهَا نِقْيَهَا وَإِذَا عَرَّسْتُمْ فَاجْتَنِبُوا الطَّرِيقَ فَإِنَّهَا طُرُقُ الدَّوَابِّ وَمَأْوَى الْهَوَامِّ بِاللَّيْلِ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله تاسو سفر کوئ، د تازګئ په زمانه کښې نو تاسو اوښ ته د زمکے نه د هغهٔ حصه ورکړئ (یعنی وابښهٔ وغیره څهٔ وربانده خورروئ) او هر کله چه تاسو د قحط په زمانه کښې سفر کوئ نو د ځناورو د مغز تلو نه مخکښې هغوی لره زر بوځئ (ځکه کچرے د قحط وهلی ملك کښې زیات حصار شئ نو ځناور به خوراك نهٔ مومی نو بالکل به کمزوری شی او په هغوی کښې به صرف هډوکی پاتے شی، نلے به ئے پاتے نهٔ شی) او هر کله چه تاسو د شپے د دمے دپاره راکوز شئ نو د لارے نه غاړے ته شئ، ځکه دا لارے د ځناور لارے دی او د شپے د ضرر رسونکو ځناورو د پاتے کیدو ځایونه دی.

بَابُ السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ

باب: سفر یو عذاب دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ نَوْمَهُ وَطَعَامَهُ وَشَرَابَهُ فَإِذَا قَضَى أَحَدُكُمْ نَهْمَتَهُ مِنْ وَجْهِهِ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ قَالَ نَعَمْ

د حضرت ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی سفر د عذاب یوه ټکړه ده منع کوی تاسو لره د اوده کیدو او خوړلو څښلو نه (یعنی په وخت دا څیزونه نهٔ میلاویږی اکثر تکلیف وی) نو هر کله چه ستاسو نه په سفر کښې خپل کار پوره کړی. هغه دِ زر خپل کور ته راځی.

بَابُ كَرَاهَةِ الطُّرُوقِ لَيْلًا

باب: د مسافر د شپے خپل کور ته واپس کیدل بد دی

---

[1] خکه چه په لاره کښې اکثر خناور هم راځی او دشپے چینجی مینجی مار وغیره په لاره باندے تیریږی د څهٔ خوراك وغیره د راغونډولو دپاره

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَطْرُقُ أَهْلَهُ لَيْلًا وَكَانَ يَأْتِيهِمْ غُدْوَةً أَوْ عَشِيَّةً

د انسؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ به د شپے خپل كورته د سفر نه نه راتلو. بلكه سحر يا مابنام به راتلو (د دے دپاره چه ښځي ته د خان ښائسته كولو موقع ميلاؤ شي)

عَنْ أَنَسٍؓ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ كَانَ لَا يَدْخُلُ

د حضرت انسؓ نه روايت دے د پورتني حديث پشان مګر په دے كښې دا دي چه حضرتﷺ به كور ته نه داخليدهٔ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِؓ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ أَمْهِلُوا حَتَّى نَدْخُلَ لَيْلًا أَيْ عِشَاءً كَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے چه مونږ په جهاد كښې د رسول اللهﷺ سره ووهر كله چه مدينے ته راغلو نو مونږ خپلو كورونو ته روان شو. حضرت اوفرمائيل او دريږئ مونږه به شپے له كورونو ته خو. د دے دپاره چه د كومے ښځي سر بير وي چه هغه ئے كومنز كړي او د چا چه خاوند غائب وو هغه پاكي اوكړي. (يعني ويختهٔ واخلي)[1]

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ أَحَدُكُمْ لَيْلًا فَلَا يَأْتِيَنَّ أَهْلَهُ طُرُوقًا حَتَّى تَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ وَتَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ

د جابرؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي هر كله چه ستاسو نه څوك د شپے راشي نو ناڅاپه د كورته نه ورځي (بلكه حصار د شي تر دے پورے چه پاكي اوكړي هغه ښځه د كومے خاوند چه په سفر كښې وو. او ګومنز كړي ويختهٔ هغه ښځه چه د هغې ويختهٔ بير شوي وي.

عَنْ سَيَّارٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د سيار نه په دغه اسناد سره هم دغسے روايت دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَطَالَ الرَّجُلُ الْغَيْبَةَ أَنْ يَأْتِيَ أَهْلَهُ طُرُوقًا

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے منع كړے ده رسول اللهﷺ هر كله چه سړے د مودے نه په سفر كښې وي. نو ناڅاپه د خپل كور ته د شپے نه راځي (او كچرے د يوے ورځے دوؤ ورځو نه غائب وي نو پرواه نشته)

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د شعبه نه دغه اسناد سره روايت دے.

عَنْ جَابِرٍؓ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَطْرُقَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ لَيْلًا

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے منع كړے ده رسول اللهﷺ د شپے خپل كورته د راتلو نه په كور والا كښې د غلا يا خيانت نيولو په

[1] د دے حديث نه معلومه شوه چه د شپے هم كورته تلل جائز دي. په دے شرط چه مخكښې كور والا ته خبر شوے وي چه فلانے سړے نن راتلونكے دے. او ناڅاپه ورتلل مكروه دي.

يَتَخَوَّنُهُمْ أَوْ يَلْتَمِسُ عَثَرَاتِهِمْ

خیال یا د هغوی د قصور لټولو په خیال (ځکه چه په دے کښې خو یوه بدګمانی ده چه په شریعت کښې منع ده. دویم د ښځے د بے حوصلے کیدو باعث دی او په دے کښې په سوونو قباحتونه دی دریم الله د نهٔ کړی کهٔ څهٔ وی نو د خپل مرګ یره ده)

عَنْ سُفْيَانَ لَا أَدْرِي هٰذَا فِي الْحَدِيثِ أَمْ لَا يَعْنِي أَنْ يَتَخَوَّنَهُمْ أَوْ يَلْتَمِسَ عَثَرَاتِهِمْ

سفیان وئیلی دی چه ما ته معلومه نهٔ ده چه د خیانت د نیولو او قصور د لټولو الفاظ دا د حدیث دی. یا راوی په تشریح کښې اووے.

عَنْ جَابِرٍؓ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَرَاهَةِ الطُّرُوقِ وَلَمْ يَذْكُرْ يَتَخَوَّنَهُمْ أَوْ يَلْتَمِسُ عَثَرَاتِهِمْ

جابرؓ د نبی کریم ﷺ نه خو د شپے ناڅاپه د تلو د کراهت روایت کړے دے. او د خیانت د نیولو او د قصور د لټولو ذکر ئے نهٔ دے کړے.

كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَمَا يُؤْكَلُ مِنَ الْحَيَوَانِ

كتاب د ښكار او ذبحو په بيان كښې او د كومو ځناورو غوښه حلاله ده

بَابُ الصَّيْدِ بِالْكِلَابِ الْمُعَلَّمَةِ

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي أُرْسِلُ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ فَيُمْسِكْنَ عَلَيَّ وَأَذْكُرُ اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ فَقَالَ إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ الْمُعَلَّمَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ فَكُلْ قُلْتُ وَإِنْ قَتَلْنَ قَالَ وَإِنْ قَتَلْنَ مَا لَمْ يَشْرَكْهَا كَلْبٌ لَيْسَ مَعَهَا قُلْتُ لَهُ فَإِنِّي أَرْمِي بِالْمِعْرَاضِ الصَّيْدَ فَأُصِيبُ فَقَالَ إِذَا رَمَيْتَ بِالْمِعْرَاضِ فَخَزَقَ فَكُلْهُ وَإِنْ أَصَابَهُ بِعَرْضِهِ فَلَا تَأْكُلْهُ

باب : په تعليم يافتو سپو د ښكار كولو بيان

د عدي بن حاتمؓ نه روايت دے چه ما عرض اوكړو چه يا رسول اللهﷺ زهٔ پرېږدم خپلو تربيت يافته سپو لره چه هغه ښكار اونيسي او زهٔ د الله نوم واخلم په هغې باندے حضرتﷺ اوفرمائيل هر كله چه تهٔ خپل تربيت شوے سپے پرېږدے او د الله تعالى نوم واخلے نو خوره بيا چه هغه څهٔ ښكار اوكړي. ما اووے كچرے هغه ئې مړ كړي حضرتﷺ اوفرمائيل اګر كهٔ هغه ئې مړ كړي خو هر كله چه يو بل سپے د هغهٔ سره شريك نهٔ وي. چه د هغې سره پرېخودے شوے نهٔ وي. ما اووے زهٔ غشے اولم په هغې ښكار وژنمه حضرتﷺ اوفرمائيل كچرے غشے اوغورځوے او هغه ښكار اوكړي (يعني د غشي په څوكه) نو خوره ئې او كچرے اولګي اولتهٔ (په پلنوالي نو مهٔ ئې خوره هغهٔ لره)[1].

---

[1] نوويؒ وئيلي دي د ښكار په اباحت باندے د عالمانو اتفاق دے. څوك چه ښكار كوي د كسب يا حاجت يا منفعت دپاره او څوك چه نرے ضرورته د لوبو دپاره كوي نو مكروه دي. د مالكؒ په نز او ليث او ابن عبدالحكيم په نز جائز دي. په دے شرط چه د ذبح كولو او د هغهٔ نه منفعت اخستلو نيت ئې كړے وي. او كهٔ نيت ئې نهٔ وي كړے نو حرام دي بے ضرورته روح اخستل او فساد كول. نوويؒ وئيلي دي هر كله چه سپے په ښكار پسے پرېږدئ يا ځناور ذبح كوئ نو صرف بسم الله بالاجماع وئيل پكار دي اوس دا واجب دي يا سنت په دے كښې اختلاف دے د شافعيؒ په نز سنت دي. اګر كهٔ سواً يا عمداً ئې پرېږدي نو هغه ځناور حلال دے او دغه روايت دے د مالك او احمد نه او د اهل ظاهرو په نز كچرے بسم الله عمداً يا سهواً پرېږدي نو هغه ځناور به حلال نهٔ وي. او دغه صحيح روايت دے د احمدؒ نه او دغه مروي دے د ابن سيرينؒ او ابوثورؒ نه (او دغه صحيح دے او د الله د كتاب موافق دے) او د ابوحنيفهؒ او مالكؒ او ثوريؒ او د جمهور عُلماؤ دا قول دے چه كچرے سواً ئې پرېږدي نو ځناور حلال دے او كهٔ قصداً ئې پرېږدي نو حرام دے. او د دے حديثؓ نه دا معلومه شوه چه د هر ښكاري سپي ښكار حلال دے اګر كهٔ هغهٔ رنګ تور وي. او دغه قول دے د مالكؒ او د شافعيؒ او ابوحنيفهؒ او د جمهورو علماؤ او د حسن بصريؒ او نخعيؒ او قتادهؒ او احمدؒ او اسحاقؒ په نز د تور سپي ښكار صحيح نهٔ دے. ځكه چه هغه شيطان دے او دا ضروري ده چه سپے به ښكاري يعني تربيت يافته وي. كچرے تربيت نهٔ وي وركړے شوے نو د هغهٔ ښكار بالاجماع حرام دے او كچرے تربيت والاوي مګر د خانه ښكار اوكړي نو د هغهٔ ښكار حرام دے زمونږ په نز او د اكثرو علماؤ په نز هغه مباح دے. او ابن

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ إِنَّا قَوْمٌ نَصِيدُ بِهٰذِهِ الْكِلَابِ فَقَالَ إِذَا أَرْسَلْتَ كِلَابَكَ الْمُعَلَّمَةَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللهِ عَلَيْهَا فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ وَإِنْ قَتَلْنَ إِلَّا أَنْ يَأْكُلَ الْكَلْبُ فَإِنْ أَكَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَكُونَ إِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ وَإِنْ خَالَطَهَا كِلَابٌ مِنْ غَيْرِهَا فَلَا تَأْكُلْ

د عدی بن حاتم نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه مونږ خلق ښکار کولے شو په دے سپو سره. حضرت ﷺ اوفرمائیل هر کله چه ته خپل ښکار سپو لره پریږدے. او د پریخودو سره د الله تعالی نوم واخلے. نو خوره د هغه ښکاورو نه کوم چه هغه اونیسی. اګر کهٔ هغه ئے اووژنی. مګر په داسے صورت کښې چه سپے هم د هغے نه اوخوری نو هغے لره مهٔ خوره ځکه چه زهٔ یریږم چه چرته سپی هغے لره د ځان دپاره نیولی نهٔ وی. دغه شان کچرے د دغه سپی سره یو بل سپے شریك وی نو هم ئے مهٔ خوره[1].

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمِعْرَاضِ فَقَالَ إِذَا أَصَابَ بِحَدِّهِ فَكُلْ وَإِذَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَقَتَلَ فَإِنَّهُ وَقِيذٌ فَلَا تَأْكُلْ وَسَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْكَلْبِ فَقَالَ إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللهِ

د عدی بن حاتم نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه د معراض د ښکار په باره کښې تپوس اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل هر کله چه په تیرهٔ څوکه د معراض اولګی نو هغه خوره او هر کله چه په ډډه اولګی او مړ شی نو هغه وقیذ دے (یعنی موقوذه دے کوم چه په کټه یا لرګی سره اووژلے شی او هغه په قرآن مجید کښې حرام دے) مهٔ خوره هغے لره. او ما د سپی په باره کښې د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل هر کله چه ته د الله تعالی د نوم اخستو سره خپل سپے

منذر د عطاءؒ او اوزاعیؒ نه دغه شان نقل کړے دے. او دویم سپے کچرے د دغه سپی سره ملګرے وی نو کهٔ هغه سپے صحرائے وی یا د هغے پریخودلو والا مشرك وی یا مجوسی وی نو هغه ښکار حرام دے ورنه حلال دے. او معراض ونیلے شی هغه لرګی ته چه د هغے په تیره سر باندے اوسپنه لګیدلی وی. او بعضو ونیلی دی معراض هغه غشی دی بغیر دغوتی او وزرونه او ابن ورید ونیلي دی معراض یو اوږد غشے دے. اوبعضو ونیلی دی هغه یو لرګے دے چه دهغے دواړه غاړے نری او د مینځ نه غټ وی. او دمکحولؒ او اوزاعیؒ په نز د معراض ښکاره په هر حال کښې صحیح دے او دا خلاف دے دے حدیث. دغه شان هغه خلقو او ابن ابی لیلیؒ ونیلی دی چه د لیندے ښکار هم صحیح دے. او د سعید بن المسیبؒ او جمهور علماؤ نه منقول دی چه د ګولۍ ښکار یعنی د لیندے مطلقا صحیح نهٔ دے د کومے پورے چه هغه ښاور ژوندے موندلے او ذبحه شوے نهٔ وی. انتهی مختصراً

1 نوویؒ ونیلی دی په سنن ابوداؤد کښې دا حدیث دے چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه خوری د هغه ښاور نه اګر کهٔ سپی هم د هغے نه خوړلے وی او په دے کښې د عالمانو اختلاف دے د شافعیؒ او ابوحنیفهؒ او احمدؒ او اسحقؒ دا قول دے چه هغه حرام دے او د سعدؒ او سلمانؒ او ابن عمرؓ او مالكؒ په نز حلال دے. او دغه حکم دے د ښکاری مرغۍ هم لیکن علاوه د شافعیؒ نه نورو تولو علماؤ د هغے خوړل جائز کړی دی. انتهی مختصراً

فَكُلْ فَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّهُ إِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ قُلْتُ فَإِنْ وَجَدْتُ مَعَ كَلْبِي كَلْبًا آخَرَ فَلَا أَدْرِي أَيُّهُمَا أَخَذَهُ قَالَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّمَا سَمَّيْتَ عَلَى كَلْبِكَ وَلَمْ تُسَمِّ عَلَى غَيْرِهِ

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ يَقُولُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمِعْرَاضِ فَذَكَرَ مِثْلَهُ

عَدِيَّ بْنَ حَاتِمٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمِعْرَاضِ بِمِثْلِ ذَلِكَ

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَيْدِ الْمِعْرَاضِ فَقَالَ مَا أَصَابَ بِحَدِّهِ فَكُلْهُ وَمَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَهُوَ وَقِيذٌ وَسَأَلْتُهُ عَنْ صَيْدِ الْكَلْبِ فَقَالَ مَا أَمْسَكَ عَلَيْكَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ فَكُلْهُ فَإِنَّ ذَكَاتَهُ أَخْذُهُ فَإِنْ وَجَدْتَ عِنْدَهُ كَلْبًا آخَرَ فَخَشِيتَ أَنْ يَكُونَ أَخَذَهُ مَعَهُ وَقَدْ قَتَلَهُ فَلَا تَأْكُلْ إِنَّمَا ذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ عَلَى كَلْبِكَ وَلَمْ تَذْكُرْهُ عَلَى غَيْرِهِ

عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ وَكَانَ لَنَا جَارًا وَدَخِيلًا وَرَبِيطًا بِالنَّهْرَيْنِ أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرْسِلُ كَلْبِي فَأَجِدُ مَعَ كَلْبِي كَلْبًا قَدْ أَخَذَ لَا أَدْرِي أَيُّهُمَا أَخَذَ قَالَ فَلَا

پریږدے نو خوره د هغۀ (ښکار) لره. لیکن کۀ سپے ددغه ښکار نه پخپله اوخوری نو مۀ خوره هغے لره ځکه چه هغه ښکار اوکړو (د خان دپاره) ما اوے کچرے زۀ د خپل سپی سره بل سپے اووینم او دا معلومه نۀ وی چه کوم سپی (دا ښکار) نیولے دے. ځکه چه تا بسم الله وئیلی وه په خپل سپی باندے نۀ په بل سپی باندے.

عدی بن حاتم وئیلی دی چه ما د رسول الله ﷺ نه د معراض په باره کښې تپوس اوکړو نو حضرت ﷺ د پورتنی حدیث پشان اوفرمائیۀ

عدی بن حاتمؓ وئیلی دی چه د رسول الله ﷺ نه د معراض په باره کښې تپوس اوکړو د مخکښینو حدیثونو پشان.

د عدی بن حاتمؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو د معراض د ښکار په باره کښې. حضرتؐ اوفرمائیل کچرے په څوکه اولګیدۀ نو خوره هغے لره او کچرے په ډډه اولګیدۀ نو هغه وَقِیذ دے (یعنی مردار دے) او ما تپوس اوکړو د حضرت ﷺ نه د سپی ښکار په باره کښې. حضرت ﷺ اوفرمائیل کوم ځناور چه سپے اونیسی او د هغے نۀ ئے خوړلے نۀ وی نو خوره هغے لره. ځکه چه د هغے زکوٰة دغه دے کچرے تا د هغۀ سره بل سپے اولیدۀ او تا ته دا یره وی چه دے بل سپی به هم ددۀ سره نیولے وی او وژلے به ئے وی. نو مۀ خوره هغے لره ځکه چه تا د الله تعالی نوم پخپل سپی باندے اخستے دے نۀ په بل سپی باندے.

د زکریا نه په دغه اسناد سره روایت دے.

د عدی بن حاتمؓ نه روایت دے (شعبه وائی) چه هغه په نهرین کښې زمونږ ګاونډی او شریك نوکر وو (نهرین د یو مقام نوم دے) هغوی تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه چه زۀ خپل سپے په ښکار پسے پریږدم بیا د هغۀ سره دویم سپے وینمه نو نۀ معلومیږی چه ښکار کوم یو

تَأْكُلْ فَإِنَّمَا سَمَّيْتَ عَلَى كَلْبِكَ وَلَمْ تُسَمِّ عَلَى غَيْرِهِ

نیولے دے حضرت ﷺ اوفرمائیل مهٔ خوره هغے لره ځکه چه تا بسم الله ونیلے ده په خپل سپی باندے نهٔ په بل سپی باندے

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ

عدی بن حاتم د نبی ﷺ نه دغسے حدیث روایت کړے دے

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ فَاذْكُرِ اسْمَ اللهِ فَإِنْ أَمْسَكَ عَلَيْكَ فَأَدْرَكْتَهُ حَيًّا فَاذْبَحْهُ وَإِنْ أَدْرَكْتَهُ قَدْ قَتَلَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ فَكُلْهُ وَإِنْ وَجَدْتَ مَعَ كَلْبِكَ كَلْبًا غَيْرَهُ وَقَدْ قَتَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي أَيُّهُمَا قَتَلَهُ وَإِنْ رَمَيْتَ سَهْمَكَ فَاذْكُرِ اسْمَ اللهِ فَإِنْ غَابَ عَنْكَ يَوْمًا فَلَمْ تَجِدْ فِيهِ إِلَّا أَثَرَ سَهْمِكَ فَكُلْ إِنْ شِئْتَ وَإِنْ وَجَدْتَهُ غَرِيقًا فِي الْمَاءِ فَلَا تَأْكُلْ

د عدی بن حاتم ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائیل هر کله چه ته خپل سپے پرېږدے نو د الله ؓ نوم اخله بیا کچرے هغه تا لره ښکار اونیسی او ژوندے وی نو ته ذبحه کړه هغے لره. او که مړ ئے کړو لیکن خوړلے ئے نهٔ وو نو هم خوره هغے لره او کچرے ستا د سپی سره بل سپے هم میلاؤ شی او ښکار ئے وژلے وی نو مهٔ خوره هغے لره. ځکه چه معلومه نهٔ ده چه کوم یو وژلے دے هغے لره او ځهٔ چه ته په غشی اولے نو د الله ؓ نوم اخله بیا کچرے ستا ښکار (په غشی لګیدل) د یوے ورځ پورے ورك شی او بیا اوموندے شی نو که ستا د غشی نه سوا د بل زخم نخښه پکښں نهٔ وی نو خوره هغے لره که زړهٔ د غواړی او کچرے ته هغے لره په اوبو کښں ډوب اوموے نو مهٔ خوره هغے لره.

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّيْدِ قَالَ إِذَا رَمَيْتَ سَهْمَكَ فَاذْكُرِ اسْمَ اللهِ فَإِنْ وَجَدْتَهُ قَدْ قَتَلَ فَكُلْ إِلَّا أَنْ تَجِدَهُ قَدْ وَقَعَ فِي مَاءٍ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي الْمَاءُ قَتَلَهُ أَوْ سَهْمُكَ

د عدی بن حاتم ؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه د ښکار په باره کښں تپوس اوکړو. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل هر کله چه ته غشے اولے نو د الله ؓ نوم اخله بیا کچرے ته هغهٔ لره مړ شوے اوموے نو خوره هغهٔ لره. مګر په داسے صورت کښں چه هغه په اوبو کښں پریوتے وی نو مهٔ خوره هغے لره ځکه چه معلومه نهٔ ده چه د ډوبیدو نه مړ دے یا ستا د غشی نه

عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ ؓ يَقُولُ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا بِأَرْضِ قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ نَأْكُلُ

د ابوثعلبه خشنی ؓ نه روایت دے چه زهٔ د رسول الله ﷺ خوا له راغلم او عرض مے اوکړو یا رسول الله ﷺ! مونږ د اهل کتاب (یعنی د یهود نصاریٰ) په ملك کښں اوسیږو. د هغوی په لوښو کښں غله خورو. او

فِي آنِيَتِهِمْ وَأَرْضِ صَيْدٍ أَصِيدُ بِقَوْسِي وَأَصِيدُ بِكَلْبِي الْمُعَلَّمِ أَوْ بِكَلْبِي الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ فَأَخْبِرْنِي مَا الَّذِي يَحِلُّ لَنَا مِنْ ذٰلِكَ قَالَ أَمَّا مَا ذَكَرْتَ أَنَّكُمْ بِأَرْضِ قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ تَأْكُلُونَ فِي آنِيَتِهِمْ فَإِنْ وَجَدْتُمْ غَيْرَ آنِيَتِهِمْ فَلَا تَأْكُلُوا فِيهَا وَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَاغْسِلُوهَا ثُمَّ كُلُوا فِيهَا وَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ أَنَّكَ بِأَرْضِ صَيْدٍ فَمَا أَصَبْتَ بِقَوْسِكَ فَاذْكُرْ اسْمَ اللهِ ثُمَّ كُلْ وَمَا أَصَبْتَ بِكَلْبِكَ الْمُعَلَّمِ فَاذْكُرْ اسْمَ اللهِ ثُمَّ كُلْ وَمَا أَصَبْتَ بِكَلْبِكَ الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ فَأَدْرَكْتَ ذَكَاتَهُ فَكُلْ

زمونږ ملك د ښكار ملك دے نو ښكار كوم پخپله لينده سره او ښكار كوم په تربيت شوی سپی سره او ښكار كوم په غير تربيت والا سپی سره. پس بيان كړئ ما ته څۀ چه حلال دی په دے كښې حضرت ﷺ اوفرمائيل تۀ وائے چه زۀ د اهل كتابو په ملك كښې يم او د هغوی په لوښو كښې خورم. نو كچرے تا ته نور لوښی ميلاويږی نو مۀ خوره د هغوی په لوښو كښې. او كۀ لوښی نۀ ميلاويږی نو وينځه هغے لره بيا پكښې خوره. او تا ذكر كړی دی چه تاسو په ښكاری زمكه كښې يئ پس كومے ته چه غشے اورسی او تا په هغے باندے د الله ؓ نوم اخستے وی نو هغه خوره. او چه تۀ پخپل ښكاری سپی باندے ښكار كوے نو په هغے باندے د الله نوم اخله او خوره ئے. او كۀ چرے د داسے سپی ښكار وی چه هغه ښكاری نۀ وی او تۀ ئے ورسره ژوندے اومومے نو هغه ذبحه كوه بيائے خوره[1].

عَنْ حَيْوَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ الْمُبَارَكِ غَيْرَ أَنَّ حَدِيثَ ابْنِ وَهْبٍ لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ صَيْدَ الْقَوْسِ

د حيوه نه په دغه اسناد سره د ابن مبارك د حديث پشان روايت دے. مګر د ابن وهب په حديث كښې د صيد القوس ذكر نشته.

عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ فَغَابَ عَنْكَ فَأَدْرَكْتَهُ فَكُلْهُ مَا لَمْ يُنْتِنْ

د ابوثعلبه نه روايت دے چه هر كله تاسو غشے اوولئ او ښكار در نه غائب شی او بيا روستو ميلاؤ شی نو خوره هغے لره د كومے پورے چه بدبويه شوے نۀ وی.

[1] نوویؒ وئيلی دی د ابوداؤد په روايت كښې دومره زياته ده چه هغوی يعنی اهل كتاب په خپلو كټوؤ كښې خنزير پخوی او په خپلو لوښو كښې شراب څښی څكه حضرت ﷺ داسے اوفرمائيل چه كۀ نور لوښی ميلاويږی نو د دوی په دے كښې خوراك څښاك مۀ كوئ او كۀ نۀ ميلاويږی نو د دوی دا ښه وينځئ هله پكښې خوراك څښاك كوئ. او دا حديث مخالف دے د فقهاؤ په قول كے چه هغه وائی د مشركانو په لوښو كښې خوړل څښل روا دی د وينځلو نه پس پكښې څۀ كراهت نشته اګر كۀ بل لوښے ميلاويږی. او ددے حديث نه چه بل لوښے ميلاويږی نو ددے د استعمال كراهت معلوميږی. او په وينځلو سره دا كراهت نۀ ځی. ددے جواب دادے چه حديث كښې هغه لوښی مراد دی چه په هغے كښې د خنزير غوښه پخولے شی يا پكښې شراب څښلے شی. او د فقهاؤ مراد هغه لوښی دی چه په هغے كښې د پليتو استعمال نۀ كيږی. انتهی مختصراً

عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الَّذِي يُدْرِكُ صَيْدَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ فَكُلْهُ مَا لَمْ يُنْتِنْ

د ابوثعلبهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه خپل ښکار د درے ورځو نه پس اومومی نو خوری دِ هغے لره کۀ چرے بدبویه شوے نۀ وی.

عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَهُ فِي الصَّيْدِ بِمِثْلِ حَدِيثِ الْعَلَاءِ غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ نُتُونَتَهُ وَقَالَ فِي الْكَلْبِ كُلْهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ إِلَّا أَنْ يُنْتِنَ فَدَعْهُ

د ابوثعلبهؓ د نبی ﷺ نه د ښکار په باره کښې حدیث روایت کړے دے څنګه چه علاء (راوی). مګر په دے کښې د بدبویه کیدو ذکر نشته دے. او د سپی د ښکار په باره کښې اوونیل چه هغے لره درے ورځے پس خوره کۀ چرے بدبویه شوے نۀ وی. ورنه پریږده.

بَابُ تَحْرِيمِ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَكُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ

باب: د هر ځناور په غاښ سره ښکار کونکے شلونکے ځناور او د هره په پنجے سره ښکار کونکے مرغۍ د خوراك د حرمت بيان

عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السَّبُعِ زَادَ إِسْحَقُ وَابْنُ أَبِي عُمَرَ فِي حَدِيثِهِمَا قَالَ الزُّهْرِيُّ وَلَمْ نَسْمَعْ بِهَذَا حَتَّى قَدِمْنَا الشَّامَ

د حضرت ثعلبهؓ نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ په غاښ باندے ښکار کونکے د هر ځناور د خوراك نه. زهری وئیلی دی مونږ نۀ دے اوریدلے دے حدیث لره شام ته د راتلو نه مخکښې.

عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَلَمْ أَسْمَعْ ذَلِكَ مِنْ عُلَمَائِنَا بِالْحِجَازِ حَتَّى حَدَّثَنِي أَبُو إِدْرِيسَ وَكَانَ مِنْ فُقَهَاءِ أَهْلِ الشَّامِ

د ابو ثعلبه خشنیؓ نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ د هر دارو والا ځناور د خوراك نه. ابن شهاب وئیلی دی. مونږ دا حدیث د خپل حجاز د علماؤ نه مو نۀ وو اوریدلے تردے پورے چه ما ته ابوادریس بیان کړو او هغه د شام د فقهاؤ نه وو.

عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ

د ابوثعلبه خشنی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د هر دارو والا ځناور د خوراك نه

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيثِ

د زُهری نه په دغه اسناد سره د یونس او د عمرو (راویانو) د حدیث

يُونُسَ وَعَمْرٍو كُلُّهُمْ ذَكَرَ الْأَكْلَ إِلَّا صَالِحًا وَيُوسُفَ فَإِنَّ حَدِيثَهُمَا نَهَى عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السَّبُعِ

پشان روايت دے. دوى ټولو (لفظ) آکل (د خوړلو) ذکر کړے دے ليکن د صالح او د يوسف (راويانو) په حديثونو کښې دے. منع کړے ده حضرت ﷺ د غابنونو والاخناورو نه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ كُلُّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ فَأَكْلُهُ حَرَامٌ

د ابوهريرة نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دى د هر دارو والا خناور خوړل حرام دى.

عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د مالك بن انس نه په دغه اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ

د عبد الله بن عباس نه روايت دے منع فرمائيلى ده رسول الله ﷺ د هر غابښ والاخناور او د هر پنجے والامرغۍ د خوراك نه

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د شعبه نه په دغه اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ

د عبد الله بن عباس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع اوکړه د هر دارو والاخناور او د هر پنجے والامرغۍ د خوراك نه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ شُعْبَةَ عَنِ الْحَكَمِ

د ابن عباس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده (د مخکښې مضمون هغه دے) څنګه چه د شعبه په حديث کښې دي، کوم چه هغۀ د حکم نه روايت کړے دے[1].

بَابُ إِبَاحَةِ مَيْتَاتِ الْبَحْرِ

باب: د درياب د مردارے مباح کيدل

عَنْ جَابِرٍ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَّرَ عَلَيْنَا أَبَا عُبَيْدَةَ نَتَلَقَّى عِيرًا لِقُرَيْشٍ وَزَوَّدَنَا جِرَابًا مِنْ تَمْرٍ لَمْ يَجِدْ لَنَا غَيْرَهُ فَكَانَ أَبُو عُبَيْدَةَ يُعْطِينَا تَمْرَةً تَمْرَةً قَالَ فَقُلْتُ كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ بِهَا قَالَ نَمَصُّهَا كَمَا يَمَصُّ الصَّبِيُّ ثُمَّ نَشْرَبُ عَلَيْهَا

د حضرت جابر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ مونږه اوليږلو او زمونږ سردار ئے ابوعبيده بن الجراح مقرر کړو. دد ے دپاره چه مونږ د قريشو د قافلے سره ميلاؤ شو. او توښے دپاره ئے مونږ له يوه تيلۍ د کهجورو راکړه. او نور څۀ مونږ ته ميلاؤ نۀ شو. نو ابوعبيده به مونږ ته يوه يوه کهجوره (هره ورځ) راکوله ابوالزبير وائي ما د جابر نه تپوس اوکړو. تاسو به په يوه کهجوره کښې کولو؟ هغوی اوے هغه به مونږ د بچي

---

[1] نووي وائي د جمهور علماؤ لکه شافعي او ابوحنيفه او احمد او د داؤد مذهب داد ے چه هر درنده په غابښونو سره ښکار کونکے دغه شان هره يوه مرغۀ په پنجو سره ښکار کولو والاحرام يعني مردار دى. او د مالك په نز مکروه دي حرام يعني مردار نۀ دي.

مِنَ الْمَاءِ فَتَكْفِينَا يَوْمَنَا إِلَى اللَّيْلِ وَكُنَّا نَضْرِبُ بِعِصِيِّنَا الْخَبَطَ ثُمَّ نَبُلُّهُ بِالْمَاءِ فَنَأْكُلُهُ قَالَ وَانْطَلَقْنَا عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ فَرُفِعَ لَنَا عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ كَهَيْئَةِ الْكَثِيبِ الضَّخْمِ فَأَتَيْنَاهُ فَإِذَا هِيَ دَابَّةٌ تُدْعَى الْعَنْبَرَ قَالَ قَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ مَيْتَةٌ ثُمَّ قَالَ لَا بَلْ نَحْنُ رُسُلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدِ اضْطُرِرْتُمْ فَكُلُوا قَالَ فَأَقَمْنَا عَلَيْهِ شَهْرًا وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةٍ حَتَّى سَمِنَّا قَالَ وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا نَغْتَرِفُ مِنْ وَقْبِ عَيْنِهِ بِالْقِلَالِ الدُّهْنَ وَنَقْتَطِعُ مِنْهُ الْفِدَرَ كَالثَّوْرِ أَوْ كَقَدْرِ الثَّوْرِ فَلَقَدْ أَخَذَ مِنَّا أَبُو عُبَيْدَةَ ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا فَأَقْعَدَهُمْ فِي وَقْبِ عَيْنِهِ وَأَخَذَ ضِلَعًا مِنْ أَضْلَاعِهِ فَأَقَامَهَا ثُمَّ رَحَلَ أَعْظَمَ بَعِيرٍ مَعَنَا فَمَرَّ مِنْ تَحْتِهَا وَتَزَوَّدْنَا مِنْ لَحْمِهِ وَشَائِقَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ هُوَ رِزْقٌ أَخْرَجَهُ اللَّهُ لَكُمْ فَهَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ فَتُطْعِمُونَا قَالَ فَأَرْسَلْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ فَأَكَلَهُ

پشان روله یعنی چوپله بیا به مو ورپسے لږ شان اوبهٔ اوڅښلے او هغه به زمونږ تو له شپه او ورځ پوره کیدله او مونږ به د خپلو لرګو نه پاڼړے شوکولے او هغه به مو په اوبو کښې لوندولے او خوړلے. جابر وائی بیا مونږ د دریاب غاړے له لاړو. او هلته یو اوږد څوربَ غوندے څیز ښکاره شو. مونږ د هغے خواله لاړو نو څهٔ ګورو چه هغه یو ځناور دے چه ورته عنبر وئیلے شی. ابو عبیده اووے دا مردار دے بیائے اووے نه مونږ د الله رسول رالیږلی یو او د الله په لاز کښې راوتلی یو او تاسو بے قراره یئ (د لوږے نه) نو خورئ دے لره. جابر وائی مونږ هلته یوه میاشت پاتے شو او مونږ درے سوه سړی وو. (د هغے غوښے مو خوړلے) ترد ے پورے چه مونږه څاربه شو) جابر وائی تاسو وینئ چه مونږ د هغے د سترګے د حلقے نه د وازګے منګی ډکول او د هغے نه مو د غوئی برابر د غوښے تکړے پریکولے. آخر ابو عبیده زمونږ نه دیارلس سړی واخستل. او هغه ټول د هغے د سترګے د حلقے دننه کیښناستل او یوه پښتئ مو د هغے د پښتو نه اوچته اودروله بیا مو د ټولو نه په غټ اوښ باندے کجاوه کیښوده د هغه اوښانو نه کوم چه زمونږ سره وو هغه د هغے د لاندے نه اووتو. او مونږ د هغه غوښے نه وشائق جوړ کړل د توشے دپاره (وشائق جمع ده د وشیقه وشیقه هغه جوشیدلے غوښه چه د سفر دپاره ایخودلے شی) هر کله چه مونږ مدینے ته راغلو. نو د رسول الله ﷺ خواله راغلو او دا قصه مو ورته بیان کړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه د الله تعالی رزق وو چه ستاسو دپاره ئے راویستلے وو. اوس کهٔ ستاسو سره د هغے څهٔ غوښه وی نو په مونږ ئے هم اوخوروئ. جابر وائی مونږ د هغے غوښه حضرت ﷺ له اولیږله او حضرت ﷺ اوخوړه[1]

[1] نووی وائی ددے حدیث نه د صحابو زهد او صبر معلومیږی. او دا ترے هم معلومه شوه چه سره د ډیر تکلیف او لوږے هغوی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةِ رَاكِبٍ وَأَمِيرُنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ نَرْصُدُ عِيرًا لِقُرَيْشٍ فَأَقَمْنَا بِالسَّاحِلِ نِصْفَ شَهْرٍ فَأَصَابَنَا جُوعٌ شَدِيدٌ حَتَّى أَكَلْنَا الْخَبَطَ فَسُمِّيَ جَيْشَ الْخَبَطِ فَأَلْقَى لَنَا الْبَحْرُ دَابَّةً يُقَالُ لَهَا الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا مِنْهَا نِصْفَ شَهْرٍ وَادَّهَنَّا مِنْ وَدَكِهَا حَتَّى ثَابَتْ أَجْسَامُنَا قَالَ فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ ضِلَعًا مِنْ أَضْلَاعِهِ فَنَصَبَهُ ثُمَّ نَظَرَ إِلَى أَطْوَلِ رَجُلٍ فِي الْجَيْشِ وَأَطْوَلِ جَمَلٍ فَحَمَلَهُ عَلَيْهِ فَمَرَّ تَحْتَهُ قَالَ وَجَلَسَ فِي حَجَاجِ عَيْنِهِ

د جابر رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه مونږه رسول الله ﷺ اولیږلو مونږ درے سوه سوارۀ وو. او زمونږ سردار ابوعبیده بن الجراح وو. مونږ د قریشو د قافلې په انتظار کښې وو نو د سمندر په غاړه د نیمې میاشتې پورے پراته وو. او دومره ډیر اوږی شوی وو تردے پورے چه پاڼے خوړل مو شروع کړل او ددے لښکر نوم هم دغه شو د پاڼو لښکر بیا سمندر زمونږ دپاره یو ښاور رااوغورځوو چه هغې ته به ئے عنبر وئیلو. د هغې نه مونږ د نیمې میاشتې پورے خوراك اوکړو او د هغې چربۍ به مو په بدن لګوله تردے پورے چه زمونږ بدنو نه طاقت ورشولو. بیا ابوعبیده د هغې یوه پښتۍ رااخسته او اودروله ئے. او په لښکر کښې ئے د تولو نه زیات دنګ سړے تلاش کړو او په اوښانو کښې د تولو نه دنګ اوښ. او هغه سړے ئے ددغه اوښ دپاسه سور کړو او د هغۀ پښتۍ دلاندے اووتو. او د هغې ښاور د سترګې په دائره کښې څو سړی کیښناستل. جابر رضی الله عنه وائی مونږ د هغه د سترګې د حلقې نه څو څو منګی د وازګے

همت نۀ بائیلو په جنګ کښې. په بل روایت کښې دی چه مونږ خپله توښه به په خپلو څټونو باندے اخستے وه. او په یو روایت کښې دی چه هر کله توښه ختمه شوه نو ابوعبیده باقی پاتې توښې تولے جمع کړے او هره ورځ به ئے د هغې نه یوه کهجوره مونږ له راکوله
امام نووی رحمه الله وائي مخکښې ابوعبیده په خپل اجتهاد سره هغې ته مردار اووے. بیا د هغوی اجتهاد بدل شو او هغوی اووے دا حلال دے. کیدے شي مردار وو لیکن هغوی د لوږے نه بے تابه وو او د بے تابه دپاره مرداره حلاله ده. او حضرت ﷺ چه څنګه د هغې غوښه اوغوښتله دا د هغوی د زړۀ د خوشحالو دپاره خاص الله تعالی رالیږلے وو. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه دے لره تبرك اوګنړئ. او په دے دلیل دے دد. ے خبرے چه یو سړی له د خپل دوست نه څۀ شے غوښتل صحیح دی. او دا سوال حرام نۀ دے او د اجتهاد جائز کیدو دلیل دے تردے پورے چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې هم. او ددے امر دلیل دے چه د دریاب ښاور حلال دے خواه کۀ پخپله مر شي یا په ښکار سره مر شي. او اجماع کړے اهل اسلام د مهی په حلت باندے. او زمونږه ملګرو چیندخې ته حرامه وئیلے ده. او د چیندخې نه سوا په نورو دریابي ښاورو کښې درے قوله دی. د تولو نه زیات صحیح دادے چه هغه حلال دی او د امام مالك رحمه الله په نز چیندخه هم صحیح ده. او د ابوحنیفه رحمه الله په نز سوا د مهی نه نور دریابي ځیزونه یعنی ښاور تول صحیح نۀ دی. دغه شان هغه مهے هم چه هغه پخپله مر شي او د اوبو سر له راشي صحیح نۀ دے زمونږ په نز او د جمهورو په نز دغه مهے حلال دے. او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نز حرام دے. او د حرمت په دلیل کښې کوم چه د جابر حدیث مروی دے هغه ضعیف دے. او د دلیل نیولو لائق نۀ دے او زمونږ دلیل دا صحیح حدیث دے. انتهٰی مختصراً

جلد دریم

نَفَرٌ قَالَ وَأَخْرَجْنَا مِنْ وَقْبِ عَيْنِهِ كَذَا وَكَذَا قُلَّةَ وَدَكٍ قَالَ وَكَانَ مَعَنَا جِرَابٌ مِنْ تَمْرٍ فَكَانَ أَبُو عُبَيْدَةَ يُعْطِي كُلَّ رَجُلٍ مِنَّا قَبْضَةً قَبْضَةً ثُمَّ أَعْطَانَا تَمْرَةً تَمْرَةً فَلَمَّا فَنِيَ وَجَدْنَا فَقْدَهُ

اووېستل. او زمونږ سره يوه بوړئ وه د كهجورے (د دغه ځناور د ميلاويدۀ نه مخكښې) نو د هغې نه به ابوعبيدهؓ زمونږ هر يو كس ته يو يو غټه كهجوره راكوله بيا به ئې يوه يوه كهجوره راكوله هر كله چه هغه هم ختمے شوے نو مونږ ته معلوم شو د هغې نه ميلاويدل (يعنى په يوه كهجوره څۀ كيږى بيا چه هر كله هغه هم پاتے نۀ شوه نو مونږ ته معلومه شوه چه يوه كهجوره هم غنيمت وو)

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ فِي جَيْشِ الْخَبَطِ إِنَّ رَجُلًا نَحَرَ ثَلَاثَ جَزَائِرَ ثُمَّ ثَلَاثًا ثُمَّ نَهَاهُ أَبُو عُبَيْدَةَ

د جابرؓ نه روايت دے چه د پاڼړو په لښكر كښې يو سړى يوه ورځ درے اوښان حلال كړل. بيائے درے اوښان، بيا درے اوښان بيا ابوعبيده منع كړو د اوښانو د حلالولو نه (په دے خيال سره چه چرته اوښان به ختم شي. او په جهاد كښې به خلل اوغورځيږي)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ بَعَثَنَا النَّبِيُّ ﷺ وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةٍ نَحْمِلُ أَزْوَادَنَا عَلَى رِقَابِنَا

د جابر بن عبدالله نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ مونږ اوليږلو او مونږ درے سوه تنه سړى وو. او زمونږ توښه زمونږ په څټونو باندے وه.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَخْبَرَهُ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ سَرِيَّةً ثَلَاثَ مِائَةٍ وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ فَفَنِيَ زَادُهُمْ فَجَمَعَ أَبُو عُبَيْدَةَ زَادَهُمْ فِي مِزْوَدٍ فَكَانَ يُقَوِّتُنَا حَتَّى كَانَ يُصِيبُنَا كُلَّ يَوْمٍ تَمْرَةٌ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ د درے سوه كسانو يو لښكر اوليږو. او ابوعبيدهؓ ئې د هغوى سردار كړو. د هغوى توښه ختم شوه. نو ابوعبيده د ټولو توښے يو ځائے كړے او هره ورځ به ئې ترے مونږ له يوه كهجوره راكوله.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً أَنَا فِيهِمْ إِلَى سِيفِ الْبَحْرِ وَسَاقُوا جَمِيعًا بَقِيَّةَ الْحَدِيثِ كَنَحْوِ حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ وَأَبِي الزُّبَيْرِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ فَأَكَلَ مِنْهَا الْجَيْشُ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ يو لښكر اوليږۀ زۀ هم په هغې كښې وم د سمندر په غاړه بيائے بيان كړو حديث لره په دغه طريقه په دے كښې دا دي چه خلقو د اتلسو ورځو پورے د دغه ځناور غوښه اوخوړه.

ثَمَانِي عَشْرَةَ لَيْلَةً

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بَعْثًا إِلَى أَرْضِ جُهَيْنَةَ وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ رَجُلًا وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے. رسول الله ﷺ یو لښکر اولیږه. د جهینه په طرف. او په دوی ئے یو امیر جوړ کړو. مخکښې د پورتنی حدیث پشان حدیث ئے بیان کړو.

بَابُ تَحْرِيمِ أَكْلِ لَحْمِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ

باب: د کورنی (یعنی د ساتونکو) خرو غوښه حرامه ده[1]

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ

د امیر المؤمنین حضرت علی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د ښځو سره د متعے کولو نه د خیبر په ورځ. او د کورنی خرونو د غوښے خوړلو نه ئے هم منع فرمائیلے ده.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ يُونُسَ وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ

د زهری په دغه اسناد سره روایت دے. او د یونس په حدیث کښې دی. د کورنی خرو د غوښے د خوراك نه

عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ قَالَ حَرَّمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُحُومَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ

د ابی ثعلبه نه روایت دے چه حرامه کړے ده رسول الله ﷺ غوښه د هغه خرو چه په کورونو کښې اوسیږی (او د ځنګل خر یعنی سحرئے خر په اتفاق سره حلال دے)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د کورنو خرو د غوښے خوړلو نه

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ أَكْلِ الْحِمَارِ الْأَهْلِيِّ يَوْمَ خَيْبَرَ وَكَانَ النَّاسُ احْتَاجُوا إِلَيْهَا

د عبد الله بن عمر نه روایت دے منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ د کورنی خرو د غوښے خوړلو نه د خیبر په ورځ حالانکه خلقو ته حاجت وو.

عَنِ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ فَقَالَ أَصَابَتْنَا مَجَاعَةٌ يَوْمَ خَيْبَرَ وَنَحْنُ مَعَ

د شیبانی نه روایت دے چه ما د عبد الله بن ابی اوفیٰ نه تپوس اوکړو د کورنی خرو د غوښے په باره کښې. هغوی اووے مونږه د خیبر په ورځ ډیر اوږی شوی وو. او مونږ د رسول الله ﷺ سره وو. او

[1] د جمهور علماؤ په نزد او ابن عباس ونیلی دی حرامه نه ده او د مالك درے قولونه دی په تولو کښې مشهور دا دے چه مکروه تنزیهی دے او صحیح ئے حرمت دے (نووی مختصراً)

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أَصَبْنَا لِلْقَوْمِ حُمُرًا خَارِجَةً مِنَ المَدِينَةِ نَحَرْنَاهَا فَإِنَّ قُدُورَنَا لَتَغْلِي إِذْ نَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ اكْفَئُوا الْقُدُورَ وَلَا تَطْعَمُوا مِنْ لُحُومِ الْحُمُرِ شَيْئًا فَقُلْتُ حَرَّمَهَا تَحْرِيمَ مَاذَا قَالَ تَحَدَّثْنَا بَيْنَنَا فَقُلْنَا حَرَّمَهَا أَلْبَتَّةَ وَحَرَّمَهَا مِنْ أَجْلِ أَنَّهَا لَمْ تُخَمَّسْ

مونږ د یهودو خرو نه د ښار نه بهر چه کوم راوتلی وو اونیول او حلال مو کړل او زمونږ په کټوو کښې د هغې غوښه وېشیدله چه په دے کښې د رسول الله ﷺ منادی آواز اوکړو کټوۍ واړوئ او د خرو غوښے مهٔ خورئ. ما اووے حضرت ﷺ د خرو غوښه څنګه حرامه کړه. دا خبرے مونږ په خپلو کښې کولے. څنو اووے حضرت ﷺ دے لره قطعی حرامه کړه څنو اووے د دے وجے نه چه د هغوی خمس وتلے نهٔ وو (یعنی د تقسیم نه مخکښې هغوی خرهٔ حلال کړل د دے وجے نه حضرت ﷺ حرام اوګرځول)

عَنْ سُلَيْمَانَ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى يَقُولُ أَصَابَتْنَا مَجَاعَةٌ لَيَالِيَ خَيْبَرَ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ وَقَعْنَا فِي الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ فَانْتَحَرْنَاهَا فَلَمَّا غَلَتْ بِهَا الْقُدُورُ نَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ اكْفَئُوا الْقُدُورَ وَلَا تَأْكُلُوا مِنْ لُحُومِ الْحُمُرِ شَيْئًا قَالَ فَقَالَ نَاسٌ إِنَّمَا نَهَى عَنْهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ لِأَنَّهَا لَمْ تُخَمَّسْ وَقَالَ آخَرُونَ نَهَى عَنْهَا أَلْبَتَّةَ

د سلیمان شیبانی نه روایت دے چه ما د عبد الله بن ابی اوفی نه اوریدلی دی چه وئیلی ئے وو مونږ د خیبر په شپو کښې اوږی شو. هر کله چه ورځ شوه نو مونږ په کورنو خرو باندے راغلو او هغه مو حلال کړل. هر کله چه دیګونه په جوش کښې راغلل نو د رسول الله ﷺ آواز کونکی آواز اوکړو واړوئ دیګونو لره او د خرو د غوښو نه هیڅ او نهٔ خورئ په دغه وخت څنو اووے رسول الله ﷺ منع اوکړه د دے نه د دے دپاره چه خرهٔ په تقسیم کښې نهٔ وو راغلی. او څنو اووے نه حضرت ﷺ دے لره حرام کړی دی.

عَنِ الْبَرَاءِ وَعَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى يَقُولَانِ أَصَبْنَا حُمُرًا فَطَبَخْنَاهَا فَنَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اكْفَئُوا الْقُدُورَ

د براء او عبد الله بن ابی اوفی نه روایت دے چه مونږ خرهٔ رااونیول او هغه مو پاخهٔ کړل بیا د حضرت ﷺ آواز کونکی آواز اوکړو واړوئ کټوو لره.

عَنْ أَبِي إِسْحَقَ قَالَ الْبَرَاءُ أَصَبْنَا يَوْمَ خَيْبَرَ حُمُرًا فَنَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللهِ ﷺ أَنْ اكْفَئُوا الْقُدُورَ

د حضرت ابو اسحاق نه روایت دے چه براء وائی مونږ د خیبر په ورځ خرهٔ اونیول بیا د رسول الله ﷺ آواز کونکی آواز اوکړو واړوئ خپلو کټوو لره.

عَنِ الْبَرَاءِ يَقُولُ نُهِينَا عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ

د براء نه روایت دے چه مونږه منع کړے شوی یو د کورنی خرو

الأَهۡلِيَّةِ

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُلْقِيَ لُحُومَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ نِيئَةً وَنَضِيجَةً ثُمَّ لَمْ يَأْمُرْنَا بِأَكْلِهِ

عَنْ عَاصِمٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَا أَدْرِي إِنَّمَا نَهَى عَنْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ كَانَ حَمُولَةَ النَّاسِ فَكَرِهَ أَنْ تَذْهَبَ حَمُولَتُهُمْ أَوْ حَرَّمَهُ فِي يَوْمِ خَيْبَرَ لُحُومَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ إِلَى خَيْبَرَ ثُمَّ إِنَّ اللهَ فَتَحَهَا عَلَيْهِمْ فَلَمَّا أَمْسَى النَّاسُ الْيَوْمَ الَّذِي فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ أَوْقَدُوا نِيرَانًا كَثِيرَةً فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا هٰذِهِ النِّيرَانُ عَلَى أَيِّ شَيْءٍ تُوقِدُونَ قَالُوا عَلَى لَحْمٍ قَالَ عَلَى أَيِّ لَحْمٍ قَالُوا عَلَى لَحْمِ حُمُرٍ إِنْسِيَّةٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَهْرِيقُوهَا وَاكْسِرُوهَا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَوْ نُهَرِيقُهَا وَنَغْسِلُهَا قَالَ أَوْ ذَاكَ

عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا فَتَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ أَصَبْنَا حُمُرًا خَارِجًا مِنَ الْقَرْيَةِ فَطَبَخْنَا مِنْهَا فَنَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنَّ اللهَ وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْهَا فَإِنَّهَا رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ

دغوښونه

د براء بن عازبؓ نه روایت دے چه حکم اوکړو مونږ ته رسول الله ﷺ د کورنی خرو د غوښو غورځولو که پخه غوښه وی یا کچه بیائے حکم نهٔ دے کړے مونږ ته د هغے د خوړلو.

د عاصم نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے هغوی وائی زهٔ نهٔ یم خبر چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د خرو د غوښے نه په دے وجه چه هغه د بارونو وړلو په کار راځی. نو بد ګڼړل حضرت ﷺ د هغوی منع کول یا حرامه ئے کړل د خیبر په ورځ د کورنی خرو غوښو لره.

د سلمه بن اکوعؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره اووتو د خیبر په طرف پس الله تعالی فتح کړو خیبر لره. په کومه ورځ چه فتح شو نو په هغه ورځ خلقو ډیر اُور بل کړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا اُور د څهٔ دے او څهٔ شے پخولے شی. خلقو عرض اوکړو غوښه پخولے شی. حضرت ﷺ اوفرمائیل د څهٔ غوښه خلقو اووے د کورنو خرو. حضرت ﷺ اوفرمائیل غوښے توئ کړئ او کټوئ ماتے کړئ یو سړی اووے مونږه به غوښه توئ کړو. او کټوئ به اووینځو. حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده داسے اوکړئ.

د یزید بن ابی عبید نه په دغه اسناد سره روایت دے.

د انسؓ نه روایت دے هر کله چه رسول الله ﷺ خیبر فتح کړو نو د کلی نه چه کوم خرهٔ راوتلی وو مونږ هغه اونیول او د هغوی غوښه مو پخوله په دی کښ د رسول الله ﷺ آواز کونکی آواز اوکړو خبردار شئ الله تعالی او د هغهٔ رسول دواړه تاسو لره منع کوی د خرو د غوښو نه ځکه چه هغه پلیت دی او ددے خوړل د شیطان کار

فَأُكْفِئَتِ الْقُدُورُ بِمَا فِيهَا وَإِنَّهَا لَتَفُورُ بِمَا فِيهَا

دے بیا تولے کتوئ واړولے شوے او غوښنه په هغے کښں جوشیدله

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ جَاءَ جَاءٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أُكِلَتِ الْحُمُرُ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أُفْنِيَتِ الْحُمُرُ فَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَبَا طَلْحَةَ فَنَادَى إِنَّ اللهَ وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ فَإِنَّهَا رِجْسٌ أَوْ نَجِسٌ قَالَ فَأُكْفِئَتِ الْقُدُورُ بِمَا فِيهَا

د انس بن مالك نه روایت دے هر کله چه د خیبر ورځ شوه. نو راتلونکے راغے او اوئې وئیل چه یا رسول الله خرۀ اوخوړلے شو.بیا بل راغے او اوئې وئیل خرۀ فنا شو. پس حضرت ﷺ ابوطلحه ته حکم اوکړو.هغوی آواز اوکړو چه الله او د هغۀ رسول منع فرمائیلے ده تاسو لره د خرو د غوښے د خوراك نه ځکه چه هغه پلیت دی ناپاك دی. انس فرمائی بیا هغه کتوئ توئ کړے شوے.

بَابٌ فِي أَكْلِ لَحْمِ الْخَيْلِ

باب : د اسونو غوښنه حلاله ده[1]

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَأَذِنَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د خیبر په ورځ د کورنی خرو د غوښے نه او اجازت ئې ورکړے دے د اسونو د غوښے د خوړلو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ أَكَلْنَا زَمَنَ خَيْبَرَ الْخَيْلَ وَحُمُرَ الْوَحْشِ وَنَهَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحِمَارِ الْأَهْلِيِّ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه مونږ به د خیبر په زمانه کښں د اسونو او سارانی خرو غوښنه خوړله او منع کړی وو مونږ رسول الله ﷺ د کورنی خرو د غوښنو د خوړلو نه

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د ابن جریج نه په دغه اسناد سره روایت دے.

عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ نَحَرْنَا فَرَسًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلْنَاهُ

د اسماء نه روایت دے مونږه یو آس حلال کړو د رسول الله ﷺ په زمانه کښں او اوخوړلو مونږ هغے لره.

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د هشام نه په دغه اسناد سره روایت دے.

بَابُ إِبَاحَةِ الضَّبِّ

باب : د خادمۍ غوښنه حلاله ده

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الضَّبِّ فَقَالَ لَسْتُ بِآكِلِهِ

د عبدالله بن عمر نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ نه د خادمۍ د غوښنے په باره کښں تپوس اوشو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نۀ زۀ هغے لره

---

[1] نووی وائی په دے کښں اختلاف دے. نو د شافعی او جمهور سلفو او خلفو دا قول دے چه د اس غوښنه مباح ده بې د کراهت نه او د امام مالك او ابوحنیفه په نیز مکروه ده.

وَلَا مُحَرِّمِهِ

خورم او نۀ ورته حرامه وایم[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الضَّبِّ فَقَالَ لَا آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ

د ابن عمرؓ نه روایت دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو د خادمۍ په باره کښې. حضرت ﷺ اوفرمائیل نۀ زۀ هغے لره خورم او نۀ ورته حرامه وایم.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ عَنْ أَكْلِ الضَّبِّ فَقَالَ لَا آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ

د ابن عمرؓ نه روایت دے یو سړی تپوس اوکړو د رسول خدا ﷺ نه هر کله چه حضرت ﷺ په منبر باندے تشریف فرما وو د خادمۍ د خوړلو په باره کښې نو حضرت ﷺ اوفرمائیل نۀ زۀ هغے لره خورم او نۀ ئے حراموم.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِمِثْلِهِ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ

د عبید اللهؓ نه دغسے روایت دے په دغه اسناد کښې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ فِي الضَّبِّ بِمَعْنَى حَدِيْثِ اللَّيْثِ عَنْ نَافِعٍ غَيْرَ أَنَّ حَدِيْثَ أَيُّوْبَ أُتِيَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِضَبٍّ فَلَمْ يَأْكُلْهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهُ وَفِي حَدِيْثِ أُسَامَةَ قَالَ قَامَ رَجُلٌ فِي الْمَسْجِدِ وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلَى الْمِنْبَرِ

ابن عمرؓ د نبی ﷺ نه د خادمۍ په باره کښې هغسے حدیث روایت کړے دے څنګه چه لیث د نافعؓ نه مګر د ایوب راوی په حدیث کښې دی چه د رسول الله ﷺ خواله خادمۍ راوړے شوه نو حضرت ﷺ اونۀ خوړه او نۀ ئے هغے لره حرامه کړه. او د اُسامه په حدیث کښې دی چه یو سړے په جماعت کښې اودریدۀ او رسول الله ﷺ په منبر باندے وو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مَعَهُ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فِيْهِمْ سَعْدٌ وَأُتُوْا بِلَحْمِ ضَبٍّ فَنَادَتْ امْرَأَةٌ مِنْ نِسَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ لَحْمُ ضَبٍّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُوْا فَإِنَّهُ حَلَالٌ وَلٰكِنَّهُ لَيْسَ مِنْ طَعَامِي

د ابن عمرؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ سره څو تنه صحابه وو چه په دوی کښې سعدؓ هم وو چه د خادمۍ غوښه راوړے شوه. د حضرت ﷺ د بیبیانو نه یوے بی بی عرض اوکړو یا رسول اللهؐ دا د خادمۍ غوښه ده. حضرت ﷺ صحابو ته اوفرمائیل تاسو ئے اوخورئ حلاله ده. لیکن زما خوراك نۀ دے (یعنی زما د دے د خوړلو اتفاق رانغے دے وجے نه کراهت راځی)

عَنْ تَوْبَةَ الْعَنْبَرِيِّ قَالَ قَالَ لِي الشَّعْبِيُّ أَرَأَيْتَ

توبه عنبری نه روایت دے چه ما ته شعبی وئیلی دی چه آیا تاته د

[1] حضرت ﷺ او نۀ خوړه. ځکه چه خادمۍ د هغوی په ملك کښې نۀ وه. نو حضرت ﷺ ته د هغے نه کرکه ورتله لکه څنګه چه په بل روایت کښې دی چه صحابو اوخوړه د حضرت ﷺ په مخکښې. د دے نه معلومه شوه چه خادمۍ حلاله ده. او په دے باندے اجماع ده د مسلمانانو خو د ابوحنیفهؒ نه منقول دی چه هغوی ورته مکروه وائی. (نووی)

حَدِيثَ الْحَسَنِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَاعَدْتُ ابْنَ عُمَرَ قَرِيبًا مِنْ سَنَتَيْنِ أَوْ سَنَةٍ وَنِصْفٍ فَلَمْ أَسْمَعْهُ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ هَذَا قَالَ كَانَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِمْ سَعْدٌ بِمِثْلِ حَدِيثِ مُعَاذٍ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْتَ مَيْمُونَةَ فَأُتِيَ بِضَبٍّ مَحْنُوذٍ فَأَهْوَى إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ فَقَالَ بَعْضُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي فِي بَيْتِ مَيْمُونَةَ أَخْبِرُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا يُرِيدُ أَنْ يَأْكُلَ فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَدَهُ فَقُلْتُ أَحَرَامٌ هُوَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ لَا وَلَكِنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِأَرْضِ قَوْمِي فَأَجِدُنِي أَعَافُهُ قَالَ خَالِدٌ فَاجْتَرَرْتُهُ فَأَكَلْتُهُ وَرَسُولُ اللهِ ﷺ يَنْظُرُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ الَّذِي يُقَالُ لَهُ سَيْفُ اللهِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ خَالَتُهُ وَخَالَةُ ابْنِ عَبَّاسٍ فَوَجَدَ عِنْدَهَا ضَبًّا مَحْنُوذًا قَدِمَتْ بِهِ أُخْتُهَا حُفَيْدَةُ بِنْتُ الْحَارِثِ مِنْ نَجْدٍ فَقَدَّمَتِ الضَّبَّ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

حسنؓ حدیث معلوم دے کوم چه هغوی د نبی ﷺ نه روایت کړے دے او زۀ د ابن عمرؓ سره دوه دوه نیم کاله کیښناستم او ما دده حدیث نه علاوه بل حدیث وانۀ اوریدۀ کوم چه هغوی د نبی ﷺ نه روایت کړے وی. هغوی اووے. د نبی ﷺ په صحابۇ کښې څۀ خلق وو، په هغوی کښې سعدؓ هم وو. (مخکښې مضمون) د معاذؓ د حدیث پشان بیان کړو.

د عبد الله بن عباسؓ نه روایت دے چه زۀ او خالد بن ولیدؓ د رسول الله ﷺ سره د مؤمنانو د مور بی بی میمونهؓ کورته لاړو هلته یوه وریته شوے خادمۍ راوړے شوه. رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك وربښکته کړو. څنو ښځو چه د میمونےؓ په کور کښې وے رسول الله ﷺ ته اوښودل هغه څۀ چه حضرت ﷺ خوړلو والا وو (یعنی اوئے وئیل ورته چه دا خادمۍ ده) ددے په اوریدو حضرت ﷺ خپل لاس مبارك راښکودو. ما اووے آیا دا حرام دے یا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل نۀ دا زمونږ په ملك کښې نۀوی ددے وجې نه ما ته کراهت راځی. خالدؓ وائی ما هغے له خپل طرفته راښکوده او اومے خوړه او رسول الله ﷺ ما ته کتل.

دعبد الله بن عباسؓ نه روایت دے چه خالد بن ولید چا ته چه به ئے سیف الله وئیلو. هغه د رسول الله ﷺ سره د مؤمنانو د مور بی بی میمونےؓ خواله لاړو چه د رسول الله ﷺ بی بی وه. او د خالدؓ او ابن عباسؓ ترور وه. د هغوی سره ئے یوه وریته شوے خادمۍ اوموندہ چه د میمونےؓ خور حفیده بنت حارث د نجد نه راوړے وه. بیا هغه خادمۍ د رسول الله ﷺ په مخکښې کیښودے شوه. او داسے به ډیره کمه پیښیده چه حضرت ﷺ ته به چا په مخکښې غله کیښوده او بیان

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ قَلَّمَا يُقَدَّمُ إِلَيْهِ طَعَامٌ حَتَّى يُحَدَّثَ بِهِ وَيُسَمَّى لَهُ فَأَهْوَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ إِلَى الضَّبِّ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ النِّسْوَةِ الْحُضُورِ أَخْبِرْنَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا قَدَّمْتُنَّ لَهُ قُلْنَ هُوَ الضَّبُّ يَا رَسُولَ اللهِ فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقَالَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ أَحَرَامٌ الضَّبُّ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ لَا وَلَكِنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِأَرْضِ قَوْمِي فَأَجِدُنِي أَعَافُهُ قَالَ خَالِدٌ فَاجْتَرَرْتُهُ فَأَكَلْتُهُ وَرَسُولُ اللهِ يَنْظُرُ فَلَمْ يَنْهَنِي

به ئے ورته اونهٔ کړو او نوم به ئے ورته او نهٔ ښودو (چه دا د څهٔ غله ده) نو رسول الله ﷺ خپل لاس د خادمۍ په طرف ورښکته کړو. هلته د حاضرو ښځو نه یوه ښځه پاڅیده او اوئے ښودل ورته چه څهٔ د حضرت ﷺ مخے ته راوړے شوی وو هغے اووئیل دا خادمۍ ده یا رسول الله ! دد ے په اوریدو حضرت ﷺ خپل لاس واپس راښکودو. خالد بن ولید ؓ اووے ولے خادمۍ حرامه ده یا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل نه حرامه نهٔ ده. لیکن دا زمونږ په ملك کښې نهٔ وی دد ے وجے نه ماله ترے نفرت راځی. خالد ؓ وائی بیا ما هغه خپل طرفته راښکوده او اومے خوړه او رسول الله ﷺ راته کتل او زهٔ ئے د خوړلو نه منع نهٔ کړمه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ وَهِيَ خَالَتُهُ فَقُدِّمَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ لَحْمُ ضَبٍّ جَاءَتْ بِهِ أُمُّ حُفَيْدٍ بِنْتُ الْحَارِثِ مِنْ نَجْدٍ وَكَانَتْ تَحْتَ رَجُلٍ مِنْ بَنِي جَعْفَرٍ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يَأْكُلُ شَيْئًا حَتَّى يَعْلَمَ مَا هُوَ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ وَزَادَ فِي آخِرِ الْحَدِيثِ وَحَدَّثَهُ ابْنُ الْأَصَمِّ عَنْ مَيْمُونَةَ وَكَانَ فِي حَجْرِهَا

د حضرت ابن عباس ؓ نه روایت دے چه خالد بن ولید د رسول الله ﷺ سره د میمونه بنت حارث کورته لاړو. هغه د خالد ترور وه. نو د رسول الله ﷺ په مخکښې د خادمۍ غوښه کیښودے شوه. هغے لره ام حفید بنت حارث د نجد نه راوړے وه او د هغه د بنی جعفر نه د یو سړی په نکاح کښې وه. او رسول الله ﷺ به یو څیز نهٔ خوړو ترڅو چه به هغوی ته معلوم شوے نهٔ وو چه دا څهٔ شے دے. بیائے بیان اوکړو د یونس د حدیث پشان . او د حدیث په آخر کښې دا زیاته کړه. او دے لره روایت کړو ابن اصم د میمونه ؓ نه او دے د هغوی په ساتنه کښې اوسیدهٔ.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي بَيْتِ مَيْمُونَةَ بِضَبَّيْنِ مَشْوِيَّيْنِ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ وَلَمْ يَذْكُرْ يَزِيدَ بْنَ الْأَصَمِّ عَنْ مَيْمُونَةَ

د ابن عباس ؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ له دوه وریتے خادمۍ راوړے شوے او مونږ ټول په هغه وخت د میمونے ؓ په کور کښې وو. او پورتنی حدیث پشان. او یزید راوی ذکر کړی نهٔ دی چه ابن اصم د میمونے ؓ نه روایت کړے دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي بَيْتِ مَيْمُونَةَ وَعِنْدَهُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ بِلَحْمِ ضَبٍّ فَذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه راوړے شوه د رسول اللهﷺ خواله هر کله حضرتﷺ تشریف فرما وو د میمونےؓ په کور کښې او خالد بن ولید هم ددوی سره وو د خادمۍ غوښه (مخکښې د زهری د حدیث پشان.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ يَقُولُ أَهْدَتْ خَالَتِي أُمُّ حُفَيْدٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ سَمْنًا وَأَقِطًا وَأَضُبًّا فَأَكَلَ مِنَ السَّمْنِ وَالْأَقِطِ وَتَرَكَ الضَّبَّ تَقَذُّرًا وَأُكِلَ عَلَى مَائِدَةِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ وَلَوْ كَانَ حَرَامًا مَا أُكِلَ عَلَى مَائِدَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه خما ترور ام حفید رسول اللهﷺ له غوړی او پنیر او خادمۍ راولیږل. حضرتﷺ ترے پنیر او غوړی اوخوړل او د خادمۍ نه ئے نفرت اوکړو پریخو ئے. او خادمۍ بیا د حضرتﷺ په دسترخوان باندے اوخوړے شوے نو کچرے دا حرامه وے نو د حضرتﷺ د دسترخوان به نه وه خوړلے شوے.

عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْأَصَمِّ قَالَ دَعَانَا عَرُوسٌ بِالْمَدِينَةِ فَقَرَّبَ إِلَيْنَا ثَلَاثَةَ عَشَرَ ضَبًّا فَآكِلٌ وَتَارِكٌ فَلَقِيتُ ابْنَ عَبَّاسٍ مِنَ الْغَدِ فَأَخْبَرْتُهُ فَأَكْثَرَ الْقَوْمُ حَوْلَهُ حَتَّى قَالَ بَعْضُهُمْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا آكُلُهُ وَلَا أَنْهَى عَنْهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِئْسَ مَا قُلْتُمْ مَا بُعِثَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مُحِلًّا وَمُحَرِّمًا إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا هُوَ عِنْدَ مَيْمُونَةَ وَعِنْدَهُ الْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ وَامْرَأَةٌ أُخْرَى إِذْ قُرِّبَ إِلَيْهِمْ خِوَانٌ عَلَيْهِ لَحْمٌ فَلَمَّا أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْكُلَ قَالَتْ لَهُ مَيْمُونَةُ إِنَّهُ لَحْمُ ضَبٍّ

د یزید بن اصم نه روایت دے چه مونږ په یوه ښادۍ کښې میلمانه وو په مدینه کښې. نو دیارلس خادمۍ زمونږ په مخکښې کیښودے شوے. څنو اوخوړے او څنو او نه خوړے. بیا په صباله زهٔ د ابن عباسؓ سره میلاؤ شوم او هغوی ته مے دا حال بیان کړو. خلقو د هغوی په مخکښې ډیرے خبرے اوکړے بعضو تردے پورے اووے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی نه زهٔ دے لره خورم نهٔ ترے څوك منع کوم او نهٔ ورته حرام وایم. حضرت ابن عباسؓ اووے تاسو بد وایئ. رسول اللهﷺ خو ددے دپاره رالیږلے شوے وو چه هر یو څیز ته حلال اووائی یا حرام. (دغه رنګے په قرآن کښې د رسول اللهﷺ صفت هم راغی يُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ) او حضرتﷺ یوه ورځ د میمونے بی بی سره وو او فضل بن عباسؓ او خالد بن ولیدؓ هم وو. او یوه ښځه بله هم وه په دے کښې د دغه خلقو مخے ته یوه خوانچه راوړے شوه چه پکښې غوښه هم وه. هر کله چه رسول اللهﷺ د هغے د خوړلو اراده اوکړه نو میمونےؓ اووے دا د

فَكَفَّ يَدَهُ وَقَالَ هٰذَا لَحمٌ لَم آكُلْهُ قَطُّ وَقَالَ لَهُمْ كُلُوا فَأَكَلَ مِنْهُ الْفَضْلُ وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ وَالْمَرْأَةُ وَقَالَتْ مَيْمُونَةُ لاَ آكُلُ مِنْ شَيْءٍ إِلاَّ شَيْءٌ يَأْكُلُ مِنْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خادمئ غوښنه ده. ددے په اوریدو حضرت ﷺ لاس راښکود او اوئے فرمائیل دا غوښنه خو زهٔ چرته هم نهٔ خورم. او هغه خلقو ته ئے اوفرمائیل تاسو خورئ نو فضل او خالد بن ولید او هغې ښځے هغه اوخوړه. او میمونے اووے زهٔ نهٔ خورم هیڅ شے مگر هغه شے کوم نه چه رسول الله ﷺ خوری

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضَبٍّ فَأَبَى أَنْ يَأْكُلَ مِنْهُ وَقَالَ لاَ أَدْرِي لَعَلَّهُ مِنَ الْقُرُونِ الَّتِي مُسِخَتْ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له یوه خادمئ راوړے شوه حضرت ﷺ د هغې د خوړلو نه انکار اوکړو اواوئے فرمائیل ما ته معلومه نهٔ ده چه دا د هغه قومونه نه وی کوم چه مسخ شوی دی لکه د عذاب شکل دے اگر کهٔ دا خادمئ ځناور دے او کوم چه مسخ شوی وو هغه مړهٔ دی

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ سَأَلْتُ جَابِرًا عَنِ الضَّبِّ فَقَالَ لاَ تَطْعَمُوهُ وَقَذِرَهُ وَقَالَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يُحَرِّمْهُ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَنْفَعُ بِهِ غَيْرَ وَاحِدٍ فَإِنَّمَا طَعَامُ عَامَّةِ الرِّعَاءِ مِنْهُ وَلَوْ كَانَ عِنْدِي طَعِمْتُهُ

د ابوالزبیر نه روایت دے چه ما د جابر بن عبد الله انصاری نه د خادمئ په باره کښ تپوس اوکړو هغوی اووے مهٔ خوره هغې لره او ناپاکه ئے اوگنړله هغې لره. او اوئے وئیل چه حضرت عمر فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ خادمئ نهٔ ده حرامه کړے او الله تعالی فائده ورکوی په دے سره ډیرو لره ځکه چه اکثر شپونکی هغې لره خوری او کچرے ځما سره وے نو ما به هم خوړلے وے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا بِأَرْضٍ مَضَبَّةٍ فَمَا تَأْمُرُنَا أَوْ فَمَا تُفْتِينَا قَالَ ذُكِرَ لِي أَنَّ أُمَّةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مُسِخَتْ فَلَمْ يَأْمُرْ وَلَمْ يَنْهَ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ قَالَ عُمَرُ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَيَنْفَعُ بِهِ غَيْرَ وَاحِدٍ وَإِنَّهُ لَطَعَامُ عَامَّةِ هٰذِهِ الرِّعَاءِ وَلَوْ كَانَ عِنْدِي لَطَعِمْتُهُ إِنَّمَا

د ابوسعید نه روایت دے چه یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ مونږ په داسے ملك یو چه هلته خادمئ ډیرے دی نو تاسو مونږ ته څهٔ حکم کوئ حضرت ﷺ اوفرمائیل د بنی اسرائیلو یو جماعت مسخ شوے وو. بیا حضرت ﷺ نهٔ حکم ورکړو هغوی ته او نهٔ ئے منع کړل د هغې نه ابوسعید وائی ددے نه پس حضرت عمر اووے الله په دے سره فائده ورکوی ډیرو لره او هم دغه غله ده د اکثرو شپونکو او کچرے ځما سره خادمئ وے نو ما به خوړلے وے لیکن رسول

عَافَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الله ﷺ به د دې نه نفرت کولو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي فِي غَائِطٍ مَضَبَّةٍ وَإِنَّهُ عَامَّةُ طَعَامِ أَهْلِي قَالَ فَلَمْ يُجِبْهُ فَقُلْنَا عَاوِدْهُ فَعَاوَدَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ ثَلَاثًا ثُمَّ نَادَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الثَّالِثَةِ فَقَالَ يَا أَعْرَابِيُّ إِنَّ اللهَ لَعَنَ أَوْ غَضِبَ عَلَى سِبْطٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَمَسَخَهُمْ دَوَابَّ يَدِبُّونَ فِي الْأَرْضِ فَلَا أَدْرِي لَعَلَّ هَذَا مِنْهَا فَلَسْتُ آكُلُهَا وَلَا أَنْهَى عَنْهَا

د ابوسعید نه روایت دے چه یو باندیچی د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه مونږ په داسے زمکه کښې اوسیږو چه هلته خادمې ډیرے دی. او دغه خما د کور والا اکثر خوراك دے. حضرت ﷺ هغۀ له جواب ورنۀ کړو. مونږ اووے بیا ترے تپوس اوکړه. هغۀ بیا تپوس اوکړو. بیا د دویم خل نه پس فرمائیل اے اعرابی الله لعنت کړے دے یائے غصه کړے ده د بنو اسرائیلو په یو جماعت باندے نو هغه ئے خناور کړی وو په زمکه به ګرځیدل پس زۀ نۀ پوهیږم چه خادمې د هغه خناورو نه ده یا بل څۀ ځکه چه دے لره نۀ خورم او نۀ ورته حرام وایم

بَاب إِبَاحَةِ الْجَرَادِ

باب : مُلخ خوړل صحیح دی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ نَأْكُلُ الْجَرَادَ

د عبدالله بن ابی اوفی نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په اوۀ غزاګانو کښې شریك وو او ملخان به مو خوړل

عَنْ أَبِي يَعْفُورٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ أَبُو بَكْرٍ فِي رِوَايَتِهِ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَقَالَ إِسْحَقُ سِتَّ وَقَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ سِتَّ أَوْ سَبْعَ

د ابو یعفور نه هم دغسے روایت دے لکه چه پورته تیر شو. اسحق شپږ غزاګانې روایت کړی دی او ابن عمر د شك سره شپږ یا اوۀ غزاګانې روایت کړے دی[1]

عَنْ أَبِي يَعْفُورٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ

د ابویعفور نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے او په دے کښې راوی اوۀ غزاګانې ذکر کړے دی

بَاب إِبَاحَةِ الْأَرْنَبِ

باب سویه حلاله ده

---

[1] نووی ونیلی دی د ملخ په حلال والی باندے د مسلمانانو اجماع ده لوس د شافعی او ابوحنیفه او احمد او د جمهور علماؤ دا قول دے چه ملخ په هر حال کښې حلال دے که ذبح کړے شی یا ذبح نۀ کړے شی. که مسلمان ئے ښکار کړی یا مجوس یا پخپله مړ شی او مالك ونیلی دی چه هغه حلال نۀ دے که پخپله مړ شی. البته که په څۀ سبب سره مړ شی. مثلاً څۀ تکړه ترے کټ شی. یا د څۀ د لاندے

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَرَرْنَا فَاسْتَنْفَجْنَا أَرْنَبًا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ فَسَعَوْا عَلَيْهِ فَلَغَبُوا قَالَ فَسَعَيْتُ حَتَّى أَدْرَكْتُهَا فَأَتَيْتُ بِهَا أَبَا طَلْحَةَ فَذَبَحَهَا فَبَعَثَ بِوَرِكِهَا وَفَخِذَيْهَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُ بِهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَبِلَهُ

د انس بن مالك نه روایت دی چه مونږ روان وو نو په مر الظهران کښې (چه د یو ځائے نوم دے) په یوے سویه ورپسے شو. مخکښې خلقو په هغې پسے منډے اووهلے لیکن ستړی شو. بیا پسے ما منډے کړے او راواوے نیوه. او د ابوطلحه خواله مے راوړه. هغوی هغې لره ذبحه کړه. او د هغې ملا او دواړه ورنونه ئے رسول الله ﷺ له اولیږل پس ما راوړل راغلم او حضرت ﷺ واخستل هغې لره[1].

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ يَحْيَى بِوَرِكِهَا أَوْ فَخِذَيْهَا

د شعبه په دغه اسناد سره د یحیٰی راوی نه کوم حدیث دے په هغې کښې دی چه د ملا غوښه یا دواړه ورنان.

بَابُ إِبَاحَةِ مَا يُسْتَعَانُ بِهِ عَلَى الِاصْطِيَادِ وَالْعَدُوِّ وَكَرَاهَةِ الْخَذْفِ

باب: د ښکار دپاره او د منډے دپاره چه کوم سامان ضروری وی هغه صحیح دے لیکن وړے وړے ګټيۍ ویشتل صحیح نهٔ دی

عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ قَالَ رَأَى عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُغَفَّلِ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِهِ يَخْذِفُ فَقَالَ لَهُ لَا تَخْذِفْ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَكْرَهُ أَوْ قَالَ يَنْهَى عَنِ الْخَذْفِ فَإِنَّهُ لَا يُصْطَادُ بِهِ الصَّيْدُ وَلَا يُنْكَأُ بِهِ الْعَدُوُّ وَلَكِنَّهُ يَكْسِرُ السِّنَّ وَيَفْقَأُ الْعَيْنَ ثُمَّ رَآهُ بَعْدَ ذٰلِكَ يَخْذِفُ فَقَالَ لَهُ أُخْبِرُكَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَكْرَهُ أَوْ يَنْهَى عَنِ الْخَذْفِ ثُمَّ أَرَاكَ تَخْذِفُ لَا

د ابن بریده نه روایت دے چه عبد الله بن مغفل یو سړے اولیدهٔ د خپلو ملګرو په خذف کولو (خذف ګیټۍ ویشتل یا اډوکے ویشتل یا دد ے پشان بل څهٔ څیز ویشتل چه د دوو ګوتو په مینځ کښې ئے کیږدی یا د مسواکے ګوتے او د غټے ګوتے په مینځ کښې ئے کیږدی) عبد الله هغهٔ ته اووے تهٔ خذف مهٔ کوه. ځکه چه رسول الله ﷺ مکروه ګڼړل یا به ئے منع کوو خذف لره. ځکه چه نهٔ په دے سره ښکار کیږی نهٔ پړے دشمن مړ کیږی بلکه غاښ پړی ماتیږی سترګه پړے چه (هر کله چه په چا اولږی) بیا عبد الله هغهٔ لره په خذف کولو اولیدهٔ نو ورته ئے اووے زهٔ تا ته حدیث بیانوم چه رسول الله ﷺ به مکروه ګڼړل یا به ئے منع کوله د خذف نه. او بیا

---

[1] نووی ونیلی دی سویه حلاله ده. د مالك او شافعی او ابوحنیفه او احمد د جمهور علماؤ په تر. مګر د عبد الله بن عمرو بن العاص او ابن ابی لیلی نه د هغې کراهت منقول دے په بل یو حدیث کښې دد ے ممانعت نشته دے. انتهی

أُكَلِّمُكَ كَلِمَةً كَذَا وَكَذَا

زۀ وينم تا لره چه خذف په مخه کوې. اوس به زۀ ستا سره خبرې نۀ کوم.[1]

عَنْ كَهْمَسٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د کهمس نه په دغه اسناد سره هغسې حديث روايت دې.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَذْفِ قَالَ ابْنُ جَعْفَرٍ فِي حَدِيثِهِ وَقَالَ إِنَّهُ لاَ يَنْكَأُ الْعَدُوَّ وَلاَ يَقْتُلُ الصَّيْدَ وَلَكِنَّهُ يَكْسِرُ السِّنَّ وَيَفْقَأُ الْعَيْنَ و قَالَ ابْنُ مَهْدِيٍّ إِنَّهَا لاَ تَنْكَأُ الْعَدُوَّ وَلَمْ يَذْكُرْ تَفْقَأُ الْعَيْنَ

د عبد الله بن مغفل روايت دې هغه وائي چه رسول الله ﷺ د خذف نه منع فرمائيلې ده. ابوجعفر په خپل حديث کښې وائي چه فرمائيلي دي حضرت ﷺ چه بې شکه دا دشمن نۀ وژني او نۀ ښکار مړ کوي ليکن غاښ ماتوي او سترګه چيږي. او وئيلي دي ابن مهدي چه حضرت ﷺ فرمائي چه دا خذف دشمن نۀ وژني او دا نۀ دي ذکر کړي چه سترګه چيږي.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ أَنَّ قَرِيبًا لِعَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ خَذَفَ قَالَ فَنَهَاهُ وَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْخَذْفِ وَقَالَ إِنَّهَا لاَ تَصِيدُ صَيْدًا وَلاَ تَنْكَأُ عَدُوًّا وَلَكِنَّهَا تَكْسِرُ السِّنَّ وَتَفْقَأُ الْعَيْنَ قَالَ فَعَادَ فَقَالَ أُحَدِّثُكَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْهُ ثُمَّ تَخْذِفُ لاَ أُكَلِّمُكَ أَبَدًا

د سعيد بن جبير نه روايت دې چه د عبد الله بن مغفل يو رشته دار به خذف کاوو نو هغۀ منع کړو او ورته ئې اووئيل چه رسول الله ﷺ د خذف نه منع کړې ده. ځکه چه نۀ دا ښکار مړ کوي او نۀ دشمن وژني ليکن غاښ ماتوي او سترګه چيږي. نو هغه بيا خذف کاوو نو ورته ئې اووئيل چه زۀ تا ته حديث بيانوم چه رسول الله ﷺ د دې نه منع کړې ده. بيا دِ خذف اوکړو زۀ به درسره چرته خبرې اونۀ کړم.

عَنْ أَيُّوبَ بِهٰذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د ايوب نه دغه اسناد سره دغسې روايت دې.

بَابُ الأَمْرِ بِإِحْسَانِ الذَّبْحِ وَالْقَتْلِ

باب : ذبح يا قتل په ښۀ کول پکار دي. او چاړۀ ښۀ

---

[1] نووئ وائي د دې حديث نه دا ثابتيږي چه د بدعتيانو او فاسقانو ملاقات پريخودل پکار دي. دغه شان د هغه خلقو چه هغه په حديث باندې عمل قصداً نۀ کوي. او داسې خلقو ملاقات هميشه دپاره پريخودل پکار دي او هغه چه کوم د درې ورځو نه زيات پريخودل منع دي او هغه هله دي چه د خپل ذات يا دنياوي کارونو دپاره خبرې بندې کړي. ليکن د بدعتيانو سره خو هميشه ملاقات پريخودل پکار دي. او د دې حديث مؤيد نور حديثونه دي. لکه حديث د کعب بن مالكؓ وغيره. انتهٰی.

اردو كتاب والامترجم وائي چه په حديث باندې عمل نۀ کول او د نفس په خواهش باندې چليدل دومره لويه ګناه ده چه د داسې سړي سره هميشه دپاره د ملاقات پريخودل جائز دي. او دا خل دي په ديکښې هغه خلق چه هغه حديث صحيح لره د چا مجتهد يا عالم يا درويش يا پير يا مرشد د قول يا فعل په خلاف کښې واجب العمل او نۀ ګڼري. بلکه د دې ګناه سخته ده د هغه سړي د ګناه نه چه هغه صرف د نفس د مجبورئ په وجه په حديث عمل نۀ کوي ليکن په حديث باندې عمل کول ښۀ او غوره ګڼري.

وتحديدِ الشَّفرةِ

تیره کول پکار دی

عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ ثِنْتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ

د شداد بن اوس نه روایت دے چه دوه خبرے ما د رسول الله ﷺ نه یاد ے کړے دی حضرت ﷺ اوفرمائیل الله تعالی په هر کار کښې نیکی فرض کړے ده. هر کله چه تاسو قتل کوئ نو په ښهٔ شان سره قتل کوئ او هر کله چه تاسو ذبح کوئ نو په ښهٔ شان سره ذبح کوئ او پکار ده چه ستاسو نه څوك ذبحه کول غواړی هغه دِ چاړهٔ ښهٔ تیره کوی او خپل ځناور له دِ آرام ورکوی. (او دغه مستحب دی چه د ځناور په مخکښې دِ چاړه نهٔ تیره کوی. او نهٔ دِ یو ځناور د بل په مخکښې ذبحه کوی. او نهٔ دِئے د ذبح کولو دپاره په راښکو سره بوځی)

عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ بِإِسْنَادِ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَمَعْنَى حَدِيثِهِ

د خالدِ حذاء نه د پورتنی اسناد او ددغے مضمون حدیث مروی دے.

بَابُ النَّهْيِ عَنْ صَبْرِ الْبَهَائِمِ

باب : ځناورو لره تړلے ویشتل منع دی

عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدِ بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ جَدِّي أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ دَارَ الْحَكَمِ بْنِ أَيُّوبَ فَإِذَا قَوْمٌ قَدْ نَصَبُوا دَجَاجَةً يَرْمُونَهَا قَالَ فَقَالَ أَنَسٌ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُصْبَرَ الْبَهَائِمُ

د هشام بن زید بن انس بن مالك نه روایت دے چه زهٔ د خپل نیکهٔ انس بن مالك سره د حکم بن ایوب کورته لاړم هلته څهٔ خلقو یو چرګ لره نخښنه کړے وو او په غشو ئے ویشتلو. نو انس اووے. رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د ځناورو د تړلو ویبا د ویشتلو نه[1].

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د شعبه نه په دغه اسناد سره روایت دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَتَّخِذُوا شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا

دحضرت ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هیڅ یو ساه لرونکی لره نخښنه مهٔ جوړوئ.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د شعبه نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

---

[1] او دا ممانعت تحریمی دے ځکه چه په دے کښې ځناور ته تکلیف وی او مال تلف کیږی. نووی وائی په عربی کښې دغے ته صبر ونیلے شی یعنی ځناور لره تړل او هغه ژوندی وی او بیا هغهٔ لره په غشو وغیره سره ویشتل.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ مَرَّ ابْنُ عُمَرَ بِنَفَرٍ قَدْ نَصَبُوا دَجَاجَةً يَتَرَامَوْنَهَا فَلَمَّا رَأَوُا ابْنَ عُمَرَ تَفَرَّقُوا عَنْهَا فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ مَنْ فَعَلَ هَذَا إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ مَنْ فَعَلَ هَذَا

د حضرت سعید بن جبیرؒ نه روایت دے چه حضرت ابن عمرؓ تیر شو په څۀ خلقو باندے چه هغوی یو چرګ نخښنه کړے وو او په غشو باندے ئے ویشتلو. هر کله چه دغه خلقو ابن عمرؓ ته اوکتل نو د هغه ځائے نه لرے شو. ابن عمرؓ اووے دا کار چا کول رسول اللهﷺ خو لعنت کړے په هغه چا باندے څوك چه دا کار کوی.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ مَرَّ ابْنُ عُمَرَ بِفِتْيَانٍ مِنْ قُرَيْشٍ قَدْ نَصَبُوا طَيْرًا وَهُمْ يَرْمُونَهُ وَقَدْ جَعَلُوا لِصَاحِبِ الطَّيْرِ كُلَّ خَاطِئَةٍ مِنْ نَبْلِهِمْ فَلَمَّا رَأَوُا ابْنَ عُمَرَ تَفَرَّقُوا فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ مَنْ فَعَلَ هَذَا لَعَنَ اللَّهُ مَنْ فَعَلَ هَذَا إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ مَنِ اتَّخَذَ شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا

د سعید بن جبیرؒ نه روایت دے چه عبد الله بن عمرؓ تیر شو د قریشو په یو څو ځوانانو باندے چه هغوی یوه مرغۍ نخښنه کړے وه او په غشو ئے ویشتله او د چا چه مرغۍ وه د هغۀ سره ئے دا خبره کړے وه چه کوم غشے په مرغۍ او نۀ لګیدۀ هغه غشے به ستا وی. هر کله چه د غه خلقو ابن عمرؓ اولیدۀ نو جدا جدا شو. نو ابن عمرؓ اوے چا کړے دے دے کار لره. لعنت پرے کړے دے الله تعالی څوك چه داسے کار کوی. او رسول اللهﷺ لعنت کړے دے په هغه سړی باندے څوك چه یو ساه والا لره نخښنه کوی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقْتَلَ شَيْءٌ مِنَ الدَّوَابِّ صَبْرًا

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه منع فرمائیلے ده رسول اللهﷺ د یو ځناور د ترلو او ویشتلو نه

كِتَابُ الأَضَاحِيِّ

کتاب د قربانو په بیان کښې

بَابُ وَقْتِهَا

عَنْ جُنْدَبِ بْنِ سُفْيَانَ قَالَ شَهِدْتُ الأَضْحَى مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَعْدُ أَنْ صَلَّى وَفَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ سَلَّمَ فَإِذَا هُوَ يَرَى لَحْمَ أَضَاحِيَّ قَدْ ذُبِحَتْ قَبْلَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهِ فَقَالَ مَنْ كَانَ ذَبَحَ أُضْحِيَّتَهُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ أَوْ نُصَلِّيَ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى وَمَنْ كَانَ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللهِ

باب: د قربانۍ وخت څۀ دے

د جندب بن سفیان نه روایت دے وائي چه زۀ د قربانۍ په اختر کښې د رسول الله ﷺ سره موجود وم. حضرت ﷺ لا مونځ نۀ وو کړے او د مانځۀ نه فارغ شوے نۀ وو او سلام ئے نۀ وو ګرځولے چه اوئے لیدلے د قربانو غوښې چه د مانځۀ د فارغ کیدونه اول ذبحه شوے وے. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چا چه قربانی کړے ده د خپل مانځۀ نه مخکښې یا زمونږ د مانځۀ نه مخکښې (دلته راوی ته شك دے) هغه د دویمه قربانی اوکړی (ځکه چه رومبۍ قربانی ئے نۀ ده شوے) او چا چه قربانی نۀ ده کړے هغه دِ د الله نوم واخلی او قربانی دِ اوکړی[1].

---

[1] نووی ؒ وئیلی دی عالمانو اختلاف کړے دے چه په مالدار باندے قربانی واجب ده یا نۀ ده. د جمهور علماؤ په نزد قربانی سنت ده کۀ څوك ئے پریږدی نو ګنهګار نۀ دے او نۀ پرے قضا لازمیږی. او دغه مذهب دے د مالك ؒ او احمد ؒ او ابویوسف ؒ او اسحق ؒ او ابوثور ؒ او مزنی ؒ وغیره نورو. او د ربیعه ؒ او اوزاعی ؒ او ابوحنیفه ؒ او د لیث ؒ په نزد په مالدار باندے قربانی واجب ده. په دے شرط چه هغه په منی کښې حاجی نۀ وی. او محمد بن حسن ؒ وئیلی دی په ښار والا باندے واجب ده او وخت د قربانۍ دا دے چه د امام سره د مونځ کولو نه پس قربانی اوکړی. او اجماع ده په دے باندے چه دِ صبا د ختو نه مخکښې د لسم تاریخ قربانی صحیح نۀ ده. او د دے نه په بعد کښې اختلاف دے. نو د شافعی ؒ او ابوداؤد ؒ او ابن منذر ؒ وغیره مذهب دا دے چه هر کله د لسم تاریخ نمر راوخیژی او وریسے دومره وخت تیر شی چه د اختر مونځ او دوه خطبے چه په څومره وخت کښې کیږی. او د قربانۍ وخت د دے نه پس شروع کیږی. اوس کۀ قربانی کوی نو صحیح ده. اګر کۀ د امام سره د اختر مونځ کړے وی یا ئے د اختر مونځ هډو نۀ وی کړے. خواه کۀ ښارے یا بانډیچے یا مسافر. خواه کۀ امام خپله قربانی دغه وخت کړے وی یا نۀ وی. او عطاء ؒ او ابوحنیفه ؒ وئیلی دی چه د کلو او ځنګل والاؤ دپاره د قربانۍ وخت د لسم تاریخ د صبح صادق نه پس شروع کیږی او د ښار والاؤ دپاره چه د کومے پورے امام د مونځ او خطبے نه فارغ شوے نۀ وی ه هغه وخته پورے نۀ کیږی. نو ددغے نه به مخکښې قربانی صحیح نۀ وی. او امام احمد وئیلی دی چه د امام د مانځۀ نه مخکښې قربانی صحیح نۀ ده. او د هغۀ د مانځۀ نه پس صحیح ده اګر کۀ هغه اوس هم قربانی نۀ وی کړے. او باندے والا او ښار والا د هغوی په نزد برابر دی. او ثوری وئیلی دی چه امام د کومے پورے د خطبے نه فارغ شوے نۀ وی د هغه وخته پورے قربانی صحیح نۀ ده. او ربیعه ؒ وئیلی دی چرته

عَنْ جُنْدَبِ بْنِ سُفْيَانَ قَالَ شَهِدْتُ الْأَضْحَى مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ بِالنَّاسِ نَظَرَ إِلَى غَنَمٍ قَدْ ذُبِحَتْ فَقَالَ مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيَذْبَحْ شَاةً مَكَانَهَا وَمَنْ لَمْ يَكُنْ ذَبَحَ فَلْيَذْبَحْ عَلَى اسْمِ اللهِ

د جندب بن سفیان نه روایت دے چه زهٔ د قربانئ په اختر کښې د رسول الله ﷺ سره وم. هر کله چه حضرت ﷺ مونځ اوکړو نو بزے ئے حلالے شوے اولیدے.حضرت ﷺ اوفرمائیل. چا چه د مانځهٔ نه مخکښې ذبحه کړے ده هغه د بله بزه ذبحه کړی. او چا چه ذبحه نهٔ ده کړے هغه د الله د نوم اخستلو سره ذبحه اوکړی.

عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَا عَلَى اسْمِ اللهِ كَحَدِيثِ أَبِي الْأَحْوَصِ

د اسود بن قیس نه په دغه اسناد سره روایت دے. دد ے سند دواړه راویانو وئیلی دی. د الله په نوم. څنګه چه د ابوالاحوص په حدیث کښې دی

عَنْ جُنْدَبٍ الْبَجَلِيِّ قَالَ شَهِدْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى يَوْمَ أَضْحَى ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ فَلْيُعِدْ مَكَانَهَا وَمَنْ لَمْ يَكُنْ ذَبَحَ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللهِ

د جندب بجلی نه روایت دے چه زهٔ د قربانئ د اختر په ورځ د رسول الله ﷺ سره موجود وم. حضرت ﷺ مونځ ادا کړو بیائے خطبه اولوسته. بیائے اوفرمائیل چا چه د مانځهٔ نه مخکښې قربانی کړے وی هغه د بیا قربانی اوکړی او چا چه نهٔ وی کړی هغه د د الله د نوم اخستلو سره قربانی اوکړی.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د شعبه نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ ضَحَّى خَالِي أَبُو بُرْدَةَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ شَاةُ لَحْمٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ عِنْدِي جَذَعَةً مِنَ الْمَعْزِ فَقَالَ ضَحِّ بِهَا وَلَا تَصْلُحُ لِغَيْرِكَ ثُمَّ قَالَ مَنْ ضَحَّى قَبْلَ الصَّلَاةِ فَإِنَّمَا ذَبَحَ لِنَفْسِهِ وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِينَ

د براء نه روایت دے خمامامـا ابوبرده د مانځهٔ نه مخکښې قربانی اوکړه.رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل دا خو د غوښے بزه شوه (یعنی د قربانئ ثواب ئے نشته دے.ابوبرده اووے یا رسول الله! خما سره د شپږو میاشتو د بزے یو بچے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل هم هغه قربانی کړه. او ستا نه علاوه د بل چا دپاره دا روا نهٔ دی. (بلکه بزه د یو کال یا د هغے نه زیاته ضروری ده) بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل څوک چه د مانځهٔ نه مخکښې قربانی اوکړی. هغه د خپل ځان دپاره حلاله کړه (یعنی د غوښے خوړلو دپاره د قربانئ ثواب ورته نهٔ میلاویږی)

چه امام رحمه الله وی هلته د نمر د ختو نه مخکښې قربانی صحیح نهٔ ده. او د هغے نه پس صحیه ده. اوس آخر وخت د قربانئ د دیارلسمے د مابنامه پورے دے او دغه قول دے د شافعی. او د ابوحنیفه او مالک او احمد په نز د دولسمے د مابنامه پورے دے. او د شپے هم قربانی صحیح ده خو مکروه ده. او د مالک په نز صحیح نهٔ ده. انتهٰی مختصراً

او څوك چه د مانځۀ نه پس ذبحه اوکړی د هغۀ قربانی اوشوه او هغه د مسلمانانو سنتو لره اورسیدل.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ خَالَهُ أَبَا بُرْدَةَ بْنَ نِيَارٍ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يَذْبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ اللَّحْمُ فِيهِ مَكْرُوهٌ وَإِنِّي عَجَّلْتُ نَسِيكَتِي لِأُطْعِمَ أَهْلِي وَجِيرَانِي وَأَهْلَ دَارِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعِدْ نُسُكًا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ عِنْدِي عَنَاقَ لَبَنٍ هِيَ خَيْرٌ مِنْ شَاتَيْ لَحْمٍ فَقَالَ هِيَ خَيْرُ نَسِيكَتَيْكَ وَلَا تَجْزِي جَذَعَةٌ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ

د براء بن عازب ؓ نه روایت دے چه د هغوی ماما ابوبرده بن نیار د رسول الله ﷺ د قربانۍ نه مخکښې قربانی اوکړه نو اوئے وئیل یا رسول الله ﷺ دا هغه ورځ ده چه په دے کښې د غوښے خواهش کول بد دی (یعنی قربانی نۀ کول او د خپل بال بچ په زړۀ کښې د غوښے خواهش باقی ساتل په دے ورځ بد دی او په څنو نسخو کښې د مکروه په بدله مقروم دے نو ترجمه به دا شی چه دا هغه ورځ ده چه په دے کښې د غوښے طلب کیږی) او ما خپله قربانی ددے دپاره زر اوکړه چه پخپل بال بچ ئے اوخوروم او په گاونډیانو او په کور والاؤ. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل بیا قربانی اوکړه. هغۀ اووے یا رسول الله ﷺ څما سره یو پیو والا کم عمرے د بزے بچے دے (د یو کال نه د کم عمر چه ورته په عربۍ کښې عناق وئیلے شی) او هغه څما په نز په غوښه کښې د دوه بزو نه غوره دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل دغه غوره دے ستا په دواړو قربانو کښې (اگر چه رومبۍ بزه قربانی نۀ وه مگر ابو برده هغے لره په نیت د نیکۍ حلاله کړے وه ددے وجے نه ئے په هغے کښې هم ثواب اوشو) او وس ستا نه پس به د یو کال نه کمه بزه د هیچا دپاره روا نۀ وی (البته گډورے د یو کال نه کم روا دے اگر کۀ د شپږ میاشتو وی خو چه قد قامت کښې د کال هومره وی).

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَالَ لَا يَذْبَحَنَّ أَحَدٌ حَتَّى يُصَلِّيَ قَالَ فَقَالَ خَالِي يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ اللَّحْمُ فِيهِ مَكْرُوهٌ

د براء بن عازب ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ ته د قربانۍ د ورځے په خطبه کښې اوفرمائیل څوك د د مانځۀ نه مخکښې قربانی نۀ کوی. څما ماما اووے یا رسول الله ﷺ دا هغه ورځ ده په کومے کښې چه د غوښے خواهش باقی ساتل بد دی. بیائے بیان اوکړو په دغه

ثُمَّ ذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ هُشَيْمٍ

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى صَلَاتَنَا وَوَجَّهَ قِبْلَتَنَا وَنَسَكَ نُسُكَنَا فَلَا يَذْبَحْ حَتّٰى يُصَلِّيَ فَقَالَ خَالِي يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَدْ نَسَكْتُ عَنِ ابْنٍ لِي فَقَالَ ذَاكَ شَيْءٌ عَجَّلْتَهُ لِأَهْلِكَ فَقَالَ إِنَّ عِنْدِي شَاةً خَيْرٌ مِنْ شَاتَيْنِ قَالَ ضَحِّ بِهَا فَإِنَّهَا خَيْرُ نَسِيكَةٍ

شان لکه پورته چه تیر شو.

د براء نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. څوک چه زمونږ په شان مونځ کوی او زمونږ قبلے ته مخ کوی او زمونږ پشان قربانی کوی (یعنی مسلمان وی) هغه د قربانی نهٔ کوی د کومے پورے چه مونږ مونځ نهٔ وی کړے. څما ماما اووے یا رسول الله ! ما خو د خپل خوئ د طرفه قربانی کړے ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل په هغے کښں تا د خپل کور والو دپاره تادی اوکړه. هغوی رسول الله ﷺ ته اووے. څما سره یوه بزه ده چه د دوو بزو نه غوره ده (نووی وائی دد ے نه معلومه شوه چه په قربانئ کښں د غوښے زیات والے غوره نهٔ دے بلکه د غوښے مزیدار والے کښں یوه څربه بزه د دوو بزو کمزورو نه غوره ده) حضرت ﷺ اوفرمائیل چه قربانی کړه هغے لره هغه ستا په دواړو قربانو کښں غوره ده.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ بِهِ فِي يَوْمِنَا هٰذَا نُصَلِّي ثُمَّ نَرْجِعُ فَنَنْحَرُ فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا وَمَنْ ذَبَحَ فَإِنَّمَا هُوَ لَحْمٌ قَدَّمَهُ لِأَهْلِهِ لَيْسَ مِنَ النُّسُكِ فِي شَيْءٍ وَكَانَ أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ قَدْ ذَبَحَ فَقَالَ عِنْدِي جَذَعَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُسِنَّةٍ فَقَالَ اذْبَحْهَا وَلَنْ تَجْزِيَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ

د براء بن عازب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل د ټولو نه مخکښں چه کوم کار مونږ په دے ورځ کوو هغه دا چه مونږ کوو (د اختر بیا کورته) چه واپس شو قربانی کوو. نو څوک چه داسے کوی هغه زمونږ په طریقه باندے روان دے. او څوک چه (د مانځهٔ نه مخکښں) ذبح کوی نو هغه غوښه ده کومه چه دهٔ د خپل کور والادپاره تیاره کړه ده قربانی نهٔ ده کړے. او ابوبرده بن نیار ذبح کړے وه بیائے اووے څما سره یوه جذعه ده (د یو کال نه د کم عمر) حضرت ﷺ اوفرمائیل تهٔ ذبح کړه هغے لره او ستا نه روستو بل چا لره روا نهٔ دی.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ

براء بن عازب د نبی ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَوْمَ النَّحْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ

براء بن عازب وئیل چه خطبه راکړه مونږ ته رسول الله ﷺ د قربانئ په ورځ د مانځهٔ نه روسته بیائے د پورتنی حدیث پشان بیان کړو.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَوْمِ نَحْرٍ فَقَالَ لَا يُضَحِّيَنَّ أَحَدٌ حَتَّى يُصَلِّيَ قَالَ رَجُلٌ عِنْدِي عَنَاقُ لَبَنٍ هِيَ خَيْرٌ مِنْ شَاتَيْ لَحْمٍ قَالَ فَضَحِّ بِهَا وَلَا تَجْزِي جَذَعَةٌ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ

د براء بن عازبؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د قربانۍ په ورځ مونږ ته خطبه اوروله نو اوئے فرمائيل چه هيڅوك د د مانځۀ نه مخکښې قرباني نۀ کوی. يو سړی اووے خما سره يو پيو والا (يعنی کم عمر چه اوس پئ خوری) د يو کال نه کم د بزے بچے دے چه په غوقه کښې د دوو بزو نه غوره دے. حضرت ﷺ اوفرمائيل هم دغه قربانی کړه او ستا نه پس به هيچا لره هم د جذعے قربانی صحيح نۀ وی (يعنی د بزے د جذعه)

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ ذَبَحَ أَبُو بُرْدَةَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْدِلْهَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَيْسَ عِنْدِي إِلَّا جَذَعَةٌ قَالَ شُعْبَةُ وَأَظُنُّهُ قَالَ وَهِيَ خَيْرٌ مِنْ مُسِنَّةٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْعَلْهَا مَكَانَهَا وَلَنْ تَجْزِيَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ

د براء بن عازبؓ نه روايت دے چه ابوبرده د مانځۀ نه مخکښې ذبح اوکړه نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چه د دے په ځائے بله قربای اوکړه . هغوی اووے يا رسول اللهؐ خما سره خو د جذعے نه سوا نور څۀ نشته دے. شعبه وائی خما گمان دے چه هغه دا هم اوے چه هغه جذعه د مسنے نه غوره ده. رسول الله ﷺ اوفرمائيل. بنه ده هغے لره ذبح کړه. او ستا نه پس به د بل چا دپاره (جذعه) روا نۀ وی.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرِ الشَّكَّ فِي قَوْلِهِ هِيَ خَيْرٌ مِنْ مُسِنَّةٍ

د شعبه نه په دغه اسناد سره روايت دے. او په دے کښې "دا د مسنه نه بنۀ دے" بغير د شك نه ذكر كړے شوے دے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيُعِدْ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا يَوْمٌ يُشْتَهَى فِيهِ اللَّحْمُ وَذَكَرَ هَنَةً مِنْ جِيرَانِهِ كَأَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَّقَهُ قَالَ وَعِنْدِي جَذَعَةٌ هِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ شَاتَيْ لَحْمٍ أَفَأَذْبَحُهَا قَالَ فَرَخَّصَ لَهُ فَقَالَ لَا أَدْرِي أَبَلَغَتْ رُخْصَتُهُ مَنْ سِوَاهُ أَمْ لَا قَالَ وَانْكَفَأَ رَسُولُ اللهِ

د حضرت انسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ (په لسم تاريخ) د يوم النحر اوفرمائيل. چا چه خما د مانځۀ نه مخکښې ذبح کړے وی هغه د په دويم ځل ذبح اوکړی. يو سړی اووے يا رسول الله ﷺ دا هغه ورځ ده چه په دی کښې د غوښے خواهش وی. او د خپلو گاونډيانو د محتاجئ حال ئے بيان کړو. کيدے شی رسول الله ﷺ هغۀ ته رښتونے اووے بيا هغه سړی اووے خما سره د يو کال نه کمه يوه بزه ده (يعنی جذعه) چه په غوښه کښې د دوو بزو نه زياته ما ته غوره ده. اے زۀ هغے لره ذبح کړم؟ حضرت ﷺ هغۀ له اجازت ورکړو. راوی وائی اوس دا نۀ ده معلومه چه دا اجازت نورو ته هم

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى كَبْشَيْنِ فَذَبَحَهُمَا فَقَامَ النَّاسُ إِلَى غُنَيْمَةٍ فَتَوَزَّعُوهَا أَوْ قَالَ فَتَجَزَّعُوهَا

شوے دے یا نه بیا حضرت ﷺ بنکته شو په دوه پولو باندے ئے هغے لره ذبح کړو (د دے حدیث نه معلومه شوه چه په خپل لاس قربانی کول غوره دی) بیا خلق اودریدو او بزو لره ئے اوېشلے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ؓ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى ثُمَّ خَطَبَ فَأَمَرَ مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ أَنْ يُعِيدَ ذِبْحًا ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ

د انس بن مالک ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونځ اوکړو. بیائے خطبه ارشاد اوفرمائیله او حکم ئے اوکړو چه چا د مانځه نه مخکښې ذبح کړی وی هغه د دوباره (د مانځه نه روستو) ذبح اوکړی. بیا (راوی) د ابن علیه (راوی) د حدیث پشان ذکر کړو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ؓ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أَضْحًى قَالَ فَوَجَدَ رِيحَ لَحْمٍ فَنَهَاهُمْ أَنْ يَذْبَحُوا قَالَ مَنْ كَانَ ضَحَّى فَلْيُعِدْ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمَا

د انس بن مالک ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د لوئے اختر په ورځ مونږ ته خطبه اوروله چه د غوښے بوئ پرے اولګیدۀ ا ومنع ئے کړو هغوی لره د ذبح کولو نه (د مانځه نه مخکښې) او اوئے فرمائیل چا چه ذبحه کړے وی هغهٔ د بیا ذبح اوکړ. بیائے بیان کړو حدیث لره په داسے شان لکه چه پورته تیر شو.

بَابُ سِنِّ الْأُضْحِيَّةِ

باب : د قربانئ د عمر بیان

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَذْبَحُوا إِلَّا مُسِنَّةً إِلَّا أَنْ يَعْسُرَ عَلَيْكُمْ فَتَذْبَحُوا جَذَعَةً مِنَ الضَّأْنِ

د حضرت جابر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل مهٔ ذبح کوئ په قربانئ کښې مګر مُسِنَّه (چه د یو کال وی او دویم ئے شروع شوے وی) البته کچرے تاسو ته داسے څناور میلاؤ نۀ شی نو د ګډ جذعه کوئ (چه د هغے شپږ میاشتے شوے وی او اومه ئے شروع وی)[1].

[1] نووی ؒ وائی د دے نه دا معلومه شوه چه د ګډ نه علاوه د بل څناور جذعه صحیح نۀ ده. او په د دے باندے اجماع ده. مګر د اوزاعی ؒ نه دا منقول دی چه د هر یو څناور جذعه روا ده او د ګډ جذعه زمونږ او د اکثرو علماؤ په نز صحیح ده. او د ابن عمر ؓ او زهری ؒ په نز صحیح نۀ ده. او د جهمورو مذهب دا دے چه علاوه د اوښ او غوا او بزے نه د بل یو څناور قربانی صحیح نۀ ده. او د حسن به منقول دی چه (ځنګلی) غوا هم د اوه کسانو د طرف نه او هوسۍ د یو سړی د طرفنه صحیح ده. او د ګډ جذعه دا ده چه هغه د د یو کال وی. او بعضو وئیلی دی چه د شپږو میاشتو. او بعضو د اوۀ میاشتو او بعضو د اتو میاشتو او بعضو دلسو میاشتو پورے وئیلی دی. او د غورے سړی قربانئ دپاره زمونږ په نز اوښ د ے بیا غوا غوښی بیا ګډه او ګډورے بیا بزه. او د مالک ؒ په نز بزه غوره ده. او غوره دا ده چه د قربانئ څناور ښۀ خورب او صحت مند او مزیدار وی. انتهٰی مختصراً

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ صَلَّى بِنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ بِالْمَدِينَةِ فَتَقَدَّمَ رِجَالٌ فَنَحَرُوا وَظَنُّوا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ نَحَرَ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ نَحَرَ قَبْلَهُ أَنْ يُعِيدَ بِنَحْرٍ آخَرَ وَلَا يَنْحَرُوا حَتَّى يَنْحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ ته مونځ راکړو په مدینه منوره کښې نو څۀ خلقو د راتلو سره قربانی اوکړه او دائے ګمان وو چه حضرت ﷺ به هم قربانی کړے وی بیا رسول الله ﷺ حکم اوکړو چه چا د هغوی نه مخکښې قربانی کړے ده هغه د بیا قربانی اوکړی. او قربانی د نه کوی تر هغے پورے ترڅو چه رسول الله ﷺ قربانی نه وی کړے (دا دے نه د امام مالکؒ مذهب ثابتیږی چه د کومے پورے امام قربانی نۀ وی کړے خلق به هم نۀ وی)

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَاهُ غَنَمًا يَقْسِمُهَا عَلَى أَصْحَابِهِ ضَحَايَا فَبَقِيَ عَتُودٌ فَذَكَرَهُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ضَحِّ بِهِ أَنْتَ قَالَ قُتَيْبَةُ عَلَى صَحَابَتِهِ

د عقبه بن عامرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هغوی له بزے ورکړے په خپلو یارانو د ویشلو دپاره د قربانئ دپاره. پس په هغے کښې د یو کال بچے باقی پاتے شو. هغوی رسول الله ﷺ ته وویل حضرت ﷺ اوفرمائیل دغه ته قربانی کړه.

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَسَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِينَا ضَحَايَا فَأَصَابَنِي جَذَعٌ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ أَصَابَنِي جَذَعٌ فَقَالَ ضَحِّ بِهَا

د عقبه بن عامرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په مونږه د قربانئ بزے اوویشلے نو څما په حصه کښې یوه جذعه راغله (یعنی د یو کال بچے) ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ څما په حصه کښې یوه جذعه راغله حضرت ﷺ اوفرمائیل هم دغه قربانی کړه.

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَسَمَ ضَحَايَا بَيْنَ أَصْحَابِهِ بِمِثْلِ مَعْنَاهُ

د عقبه بن عامرؓ نه روایت دے چه رسو ل الله ﷺ قربانئ تقسیم اوفرمائیلے په خپلو صحابؤ کښې. (مخکښې روایت) د پورتنی حدیث هم معنی.

بَابُ اسْتِحْبَابِ الضَّحِيَّةِ وَذَبْحِهَا مُبَاشَرَةً بِلَا تَوْكِيلٍ وَالتَّسْمِيَةِ وَالتَّكْبِيرِ

باب : قربانی په خپل لاس کول مستحب دی دغسے بسم الله او الله اکبر وئیل

عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ

د حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ قربانی اوکړه د دوو ګډانو چه سپین وو یا سپین او تور بنکرو والا حضرت ﷺ ذبح کړل دواړه پخپل لاس سره او بسم الله او تکبیر ئے اووے او خپه

رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا

نې كيښوده د هغوي په څټ باندې د حلالولو په وخت خكه چه ځناور سر او نه خوزوي او تكليف او نه مومي[1]

عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ قَالَ وَرَأَيْتُهُ يَذْبَحُهُمَا بِيَدِهِ وَرَأَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا قَالَ وَسَمَّى وَكَبَّرَ

د حضرت انس نه روايت دې چه قرباني اوكړه رسول الله ﷺ د دوؤ گډانو چه سپين وو يا سپين او تور ښكرو والا. انس اووې چه ما ليدلي دي چه حضرت ﷺ په لاس هغه ذبح كول او خپله خپه به ئې د هغوي په څټ باندې كيخوده او بسم الله او تكبير به ئې اووې.

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ ضَحَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ قَالَ قُلْتُ أَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ أَنَسٍ قَالَ نَعَمْ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَيَقُولُ بِاسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ

د انس نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ذبح كړل د پورتني حديث پشان. راوي خپل استاذ ته اووې چه تا پخپله اوريدلي دي د انس نه هغۀ اووې آو. انس د نبي ﷺ نه دغسې روايت كړې دې مګر په ديكښې دادي چه حضرت ﷺ به فرمائيل بسم الله والله اكبر.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِكَبْشٍ أَقْرَنَ يَطَأُ فِي سَوَادٍ وَيَبْرُكُ فِي سَوَادٍ وَيَنْظُرُ فِي سَوَادٍ فَأُتِيَ بِهِ لِيُضَحِّيَ بِهِ فَقَالَ لَهَا يَا عَائِشَةُ هَلُمِّي الْمُدْيَةَ ثُمَّ قَالَ اشْحَذِيهَا بِحَجَرٍ فَفَعَلَتْ ثُمَّ أَخَذَهَا وَأَخَذَ الْكَبْشَ فَأَضْجَعَهُ ثُمَّ ذَبَحَهُ ثُمَّ قَالَ بِاسْمِ اللهِ اللَّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ وَمِنْ أُمَّةِ

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دې چه رسول الله ﷺ حكم اوكړو د يو ښكرو والا ګډوري د راوستلو او حكم ې اوكړو چه هغه ځي په تور والې كښې او كيښني په تور والي كښې اووينې په تور والي كښې (يعنې چه د خپو او ګيډې او سترګو نه چاپيره تور وي) پس راوستې شو يو داسې ګډورې د قربانۍ دپاره. حضرت ﷺ اوفرمائيل. اې عائشې چاړۀ راوړه. بيا ئې اوفرمائيل تيرۀ كړه هغې لره په ګټه سره. ما هغې لره تيرۀ كړه. بيا حضرت ﷺ چاړۀ واخسته او ګډورې ئې اونيوۀ او سملاوو ئې او بيائې ذبح كړو. بيائې اوفرمائيل

[1] نووي وئيلي دي چه اجماع ده د اهل اسلام په دې باندې چه په قربانۍ كښې بې ښكرو ځناور چه د هغۀ ښكرو هډو راختلي نۀ وي صحيح دې. او د كوم ځناور چه ښكر مات شوې وي په هغې كښې اختلاف دې. نو د شافعي او ابوحنيفه او جمهور علماؤ په نز صحيح دې. او اجماع ده چه د بيمار او خوار او د شبكور او د ګډ ځناور قرباني صحيح نۀ ده. او هم دغسې د روند يا ګنجي. اوزمونږ ملګرو وئيلي دي چه غوره رنګ د قربانۍ د ځاروي سپين دې بيا زير بيا خاكي بيا برګ بيا تور. او پخپل لاس سره قرباني كول مستحب دي. او جائز دي بل چا لره وكيل كول په عذر سره او په هغه حالت كښې مستحب دي چه د ذبح په وخت پخپله هم موجود وي او كچرې وكيل كړي چا يهودي يا نصراني لره نو مكروه دي. او جائز دي وكيل جوړول هلك نابالغه لره يا حائضې ښځې لره. انتهى مختصراً

مُحَمَّدٍ ثُمَّ ضَحَّى بِهِ

بَابُ جَوَازِ الذَّبْحِ بِكُلِّ مَا أَنْهَرَ الدَّمَ إِلَّا السِّنَّ وَالظُّفُرَ وَسَائِرَ الْعِظَامِ

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا لَاقُو الْعَدُوِّ غَدًا وَلَيْسَتْ مَعَنَا مُدًى قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْجِلْ أَوْ أَرِنِي مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ فَكُلْ لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ وَسَأُحَدِّثُكَ أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ قَالَ وَأَصَبْنَا نَهْبَ إِبِلٍ وَغَنَمٍ فَنَدَّ مِنْهَا بَعِيرٌ فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِهَذِهِ الْإِبِلِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ فَإِذَا غَلَبَكُمْ مِنْهَا شَيْءٌ فَاصْنَعُوا بِهِ هَكَذَا

بسم الله یا الله قبول کړه دے لره د محمد د طرفنه او د هغهٔ د اولاد د طرفنه او د محمد د امت د طرفنه بیائے قربانی کړو هغے لره[1].

باب : ذبح د هر څیز نه صحیح ده چه وینه اوبهیوی سوا د غابښ او نوك او د هډوکی نه

د رافع بن خدیجؓ نه روایت دے چه ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ مونږ صباله د دشمن سره مخامخ کیږو او زمونږ سره چړے نشته دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل تادی کوه یا هوښیاری کوه چه کله وینه اوبهیږی او د الله نوم پرے واخستے شی نو بیائے خوره. سوا د غابښو او نوکونو نه د هغے وجه دا ده چه غابښ هډوکے دے. او نوکونه د حبشیانو چړے دی. راوی وائی مونږ ته په غنیمت کښں اوښں او بزه میلاؤ شو. بیا په هغوی کښں یو اوښں خراب شو. یو سړی هغه په غشی باندے اوویشتو. هغه اودریدو. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل په دے اوښانو کښں هم ځنے خرابیږی او تیښته کوی لکه ځنګه چه د ځنګل ځناور تښتی. بیا چه هر کله یو ځناور داسے شی نو د هغهٔ سره هم داسے کوی[2].

---

[1] نوویؒ وئیلی دی اجماع ده په دے باندے چه ځناور به په ګسه دهه باندے سملوی دد ے دپاره چه ذبح کونکی ته آسانی وی. چاړهٔ به په ښی لاس کښں اونیسی او په ګس لاس به د قربانۍ سر اونیسی او دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه یو ځناور د یو سړی او د هغهٔ د کور والاؤ د طرفنه کافی دے. او تولو ته به ثواب میلاویږی. زمونږ او د جمهورو عالمانو دغه مذهب دے. او ثوریؒ او ابوحنیفهؒ دے ته مکروه وئیلی دی او طحاویؒ وئیلی دی چه دا حدیث منسوخ دے یا مخصوص دےاو عالمانو وئیلی دی چه د طحاویؒ قول غلط دے خکه چه نسخ او تخصص صرف په دعوه سره نهٔ شی کیدے. انتهٰی

[2] یعنی په تیرهٔ غشی وغیره سره ئے هغه اوویشتو او د الله تعالی نوم ئے واخستو. نو کچرے هغه ددغه زخم نه مړ شو نو هغه خوره حلال دے. او کهٔ مړ نهٔ شی نو ذبح ئے کړه د جمهور علماؤ دغه مذهب دے او دغه صحیح دے. دد ے حدیث نه معلومه شوه چه په نوکونو او غابښونو او هډوکو سره ذبح کول صحیح نهٔ دی باقی په هر تیرهٔ څیز سره لکه توره ، چاړهٔ، نیزه ، ګټه، او شیشه، لرګی ، کودری، او تانبه وغیره سره صحیح دے کچرے د هار والاوی. او د ابوحنیفهؒ په نز چه کوم غابښ د بدن نه جدا شوے وی دغه شان کوم

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ مِنْ تِهَامَةَ فَأَصَبْنَا غَنَمًا وَإِبِلًا فَعَجِلَ الْقَوْمُ فَأَغْلَوْا بِهَا الْقُدُورَ فَأَمَرَ بِهَا فَكُفِئَتْ ثُمَّ عَدَلَ عَشْرًا مِنَ الْغَنَمِ بِجَزُورٍ وَذَكَرَ بَاقِيَ الْحَدِيثِ كَنَحْوِ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ	د رافع بن خديج نه روايت دے مونږ د رسول الله ﷺ سره وو په ذوالحليفه كښې چه په تهامه كښې ده. (دا ذوالحليفه بل يو مقام دے د حاذه او ذات عرق په مينځ كښې او دا هغه ذوالحليفه نۀ ده كوم چه د مدينې والاؤ ميقات دے) پس هلته مونږ ته بزے او اوښان ميلاؤ شو. خلقو جلتي اوكړه او هغوى له ئے په كټوؤ كښې جوش وركړو (يعنى هغه ئے حلال كړل) حضرت ﷺ حكم اوكړو او هغه ټولے كټوئ واړولے شوے. بيائے لس بزے د يو اوښ برابر كښيودے. او بيان ئے كړو حديث لره ددغے پشان[1]
عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا لَاقُو الْعَدُوِّ غَدًا وَلَيْسَ مَعَنَا مُدًى فَنُذَكِّي بِاللِّيطِ وَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ وَقَالَ فَنَدَّ عَلَيْنَا بَعِيرٌ مِنْهَا فَرَمَيْنَاهُ بِالنَّبْلِ حَتَّى وَهَصْنَاهُ	د رافع بن خديج نه روايت دے مونږه اووے يا رسول الله صبا مونږ د دشمن سره ميلاويدونكي يو او زمونږ سره چړے نشته دے نو مونږ به ذبح كوؤ په ليتكئ سره. بيائے بيان كړو حديث لره د قصے سره او اوئے وئيل چه زمونږ په اوښانو كښې يو اوښ په سركشئ سره اوتښتيدۀ مونږ هغۀ لره په غشو اوويشتو تردے پورے چه او مو غورځولو هغۀ لره.
عَنْ سَعِيدِ بْنِ مَسْرُوقٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ الْحَدِيثَ إِلَى آخِرِهِ بِتَمَامِهِ وَقَالَ فِيهِ وَلَيْسَتْ مَعَنَا مُدًى أَفَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ	د سعيد بن مسروق نه په دغه اسناد سره پوره حديث روايت دے او په دے كښې وئيلي دي چه زمونږ سره چړے نشته دے آيا مونږ به په ډورمو ذبح كوؤ.
عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا لَاقُو الْعَدُوِّ غَدًا وَلَيْسَ مَعَنَا مُدًى وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَلَمْ يَذْكُرْ فَعَجِلَ الْقَوْمُ فَأَغْلَوْا بِهَا الْقُدُورَ فَأَمَرَ بِهَا فَكُفِئَتْ وَذَكَرَ	د رافع بن خديج نه روايت دے هغوى اووے يا رسول الله مونږ صباله د دشمن سره جنګيدونكي يو او زمونږ سره چړے نشته دے. او پوره حديث ئے بيان كړو. مګر دا ذكر ئے اونۀ كړو چه قوم تادى اوكړه او كټوئ ئے اوخوټكولے. نو حضرت ﷺ حكم اوكړو نو

هډوكے چه جدا شوے وى په هغے سره ذبح كول صحيح دى. او د مالك په نز په هډوكى سره ذبح صحيح ده. او دا دواړه مذهبونه باطل دى په دے خبره كښې او د سنتو خلاف دى. (نووى مختصراً)

[1] حضرت ﷺ كټوؤ لره واړولے خكه چه د غنيمت مال د تقسيم نه مخكښې استعمالول صحيح نۀ دى هر كله چه دار الاسلام ته راورسى او په دار الحرب كښې د ضرورت په وخت د خوړلو د څيز استعمال صحيح دے.

سَائِرَ الْقِصَّةِ

كتوئ واورولے شوے. او ټوله قصه ئے ذكر كړه.

بَاب النَّهْيِ عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْأَضَاحِيِّ بَعْدَ ثَلَاثٍ وَنَسْخِهِ

باب: د دريو ورځو نه پس د قربانۍ د غوښے د خوړلو نه ممانعت او د هغے د منسوخ كيدو بيان

عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ شَهِدْتُ الْعِيدَ مَعَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ وَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَانَا أَنْ نَأْكُلَ مِنْ لُحُومِ نُسُكِنَا بَعْدَ ثَلَاثٍ

د ابو عبيد نه روايت دے چه زۀ د اختر په مانځۀ كښې د حضرت علي سره وم چه هغوی مونځ مخكښې اوكړو او خطبه ئے روستو د مانځۀ نه اوكړه. او اوئے وئيل چه رسول الله ﷺ منع كړے ده. د درے ورځو نه پس د قربانۍ د غوښو خوړلو نه[1].

عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى ابْنِ أَزْهَرَ أَنَّهُ شَهِدَ الْعِيدَ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ فَصَلَّى لَنَا قَبْلَ الْخُطْبَةِ ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ نَهَاكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا لُحُومَ نُسُكِكُمْ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ فَلَا تَأْكُلُوا

د ابو عبيد نه روايت دے چه هغوی د اختر مونځ د حضرت عمر سره اوكړو. بيا هغوی اووے ما مونځ اولوستۀ د حضرت علي سره نو هغوی د خطبے نه مخكښې مونځ وركړو او بيائے خلقو ته خطبه واوروله او اوئے وئيل چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده د درے ورځو نه زيات د قربانۍ د غوښے خوړلو نه نو مۀ ئے خورئ (د درے ورځو نه پس بلكه د درے ورځو پورے ئے خورئ او خيرات كوئ ئے هم)

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د زهري نه په دغه اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَا يَأْكُلْ أَحَدٌ مِنْ لَحْمِ أُضْحِيَّتِهِ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ

د حضرت عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلې ده د درے ورځو نه پس د قربانۍ د غوښے خوړلو نه سالم وائي ابن عمر به د قربانۍ غوښه د درے ورځو نه زياته نۀ خوړله

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ اللَّيْثِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى أَنْ تُؤْكَلَ لُحُومُ الْأَضَاحِيِّ بَعْدَ ثَلَاثٍ قَالَ سَالِمٌ فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ لَا يَأْكُلُ لُحُومَ الْأَضَاحِيِّ

د حضرت عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده د درے ورځو نه پس د قربانۍ د غوښے خوړلو نه سالم وائي. ابن عمر به د قربانۍ غوښه د درے ورځو نه زياته نۀ خوړله سالم خو دا وائي. "د درے ورځو نه زياته" او د حضرت عبد الله بن

---

[1] د علماؤ يو ټولى په دے حديث باندے عمل كړے دے او د قربانۍ غوښه ئے د درے ورځو نه زياته اوچودل حرام كړى دى. او د جمهورو علماؤ په نز جائز دى او هغوى وائي چه دا حديث منسوخ دے او دغه صحيح دى (نووي مختصراً)

فَوْقَ ثَلَاثٍ وَقَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ بَعْدَ ثَلَاثٍ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ وَاقِدٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الضَّحَايَا بَعْدَ ثَلَاثٍ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَمْرَةَ فَقَالَتْ صَدَقَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُولُ دَفَّ أَهْلُ أَبْيَاتٍ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ حَضْرَةَ الْأَضْحَى زَمَنَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادَّخِرُوا ثَلَاثًا ثُمَّ تَصَدَّقُوا بِمَا بَقِيَ فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ النَّاسَ يَتَّخِذُونَ الْأَسْقِيَةَ مِنْ ضَحَايَاهُمْ وَيَجْمُلُونَ مِنْهَا الْوَدَكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا نَهَيْتَ أَنْ تُؤْكَلَ لُحُومُ الضَّحَايَا بَعْدَ ثَلَاثٍ فَقَالَ إِنَّمَا نَهَيْتُكُمْ مِنْ أَجْلِ الدَّافَّةِ الَّتِي دَفَّتْ فَكُلُوا وَادَّخِرُوا وَتَصَدَّقُوا

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ نَهَى عَنْ أَكْلِ

عمرؓ خوي وائي د دريو ورځو نه روستو

د عبد الله بن واقد نه روايت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د درے ورځو نه پس د قربانۍ د غوښے خوړلو نه عبد الله بن ابی بکر وائي ما دا حديث عمره ته بيان کړو. هغوی اووے عبد الله ربنتيا ونيلی دی. ما د حضرت عائشے صديقےؓ نه اوريدلی دی چه هغوی ونيلی وو څۀ خلق د باندو نه په لونړے اختر کښې د شريکيدو دپاره د رسول الله ﷺ په زمانه کښې راغلو (او هغه خلق محتاج وو) نو حضرت ﷺ اوفرمائيل. د قربانۍ غوښه د درے ورځو موافق کيږدوئ او باقي خيراتي ورکړئ (ځکه چه دا محتاج اوږی پاتے نۀ شي او دوی ته هم د خوراك دپاره غوښه ميلاؤ شي) د دے نه پس خلقو عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! خلقو به د خپلو قربانو نه مشکونه جوړول (يعنی د هغے د څرمنو نه) او په هغے کښې به ئے وازګه ويلی کوله. رسول الله ﷺ اوفرمائيل اوس څۀ اوشو؟ خلقو عرض اوکړو تاسو منع اوفرمائيله د قربانۍ غوښے لره د درے ورځو نه پس د خوړلو نه (او د دے نه دا معلومه شوه چه د قربانۍ يو جز هم د درے ورځو نه زيات ايخودل نۀ دی پکار) حضرت ﷺ اوفرمائيل ما تاسو لره منع کړی وو د هغه محتاجانو د وجے نه چه هغه وخت راغلی وو. اوس خورئ او روستو له ئے ساتئ او خيراتي ئے ورکوئ[1]

د جابرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے وه د درے ورځو نه

[1] نوویؒ وائي د دے نه معلومه شوه چه د درے ورځو نه زيات د قربانۍ غوښه ايخودل منع نۀ دی. او دا هم معلومه شوه چه د قربانۍ نه صدقه ورکول پکار دی. او خوړل ترے هم پکار دی. بيا کچرے قرباني نفل کوی نو صدقه ورکول ترے واجب دی. او غوره داده چه زيات صدقه کړی. علماؤ ونيلی دی چه دريمه حصه به صدقه ورکړی. او دريمه به دوستانو ته هديه کړی. او دريمه حصه به پخپله اوخوری او يو قول دا دے چه نيمه به اوخوری او نيمه به خيرات کړی. او خوړل د قربانۍ نه مستحب دی واجب نۀ دی. او د ځنے سلفو نه دد دے وجوب منقول دے. (انتهی مختصراً)

لُحُومِ الضَّحَايَا بَعْدَ ثَلَاثٍ ثُمَّ قَالَ بَعْدُ كُلُوا وَتَزَوَّدُوا وَادَّخِرُوا وَتَصَدَّقُوا

زیات د قربانو د غوښو خوړلو نه بیائے د هغے نه پس اوفرمائیل خورئ ئے او توښه کوئ ئے او اړدئ ئے. (نو ممانعت منسوخ شو)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ كُنَّا لَا نَأْكُلُ مِنْ لُحُومِ بُدْنِنَا فَوْقَ ثَلَاثٍ مِنًى فَأَرْخَصَ لَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقَالَ كُلُوا وَتَزَوَّدُوا قُلْتُ لِعَطَاءٍ قَالَ جَابِرٌ حَتَّى جِئْنَا الْمَدِينَةَ قَالَ نَعَمْ

د حضرت جابر بن عبد الله نه روایت دے چه مونږ به د خپلو قربانو غوښه د درے ورځو نه زیاته نه خوړله په منی کښې بیا رسول الله ﷺ اجازت راکړو او اوئے فرمائیل خوره او توښه جوړوه (د لاندے) ما عطاء ته اووے. جابر دا هم وئیلی دی چه مونږ راغلو مدینے ته هغوی اووے آو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا لَا نُمْسِكُ لُحُومَ الْأَضَاحِيِّ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ نَتَزَوَّدَ مِنْهَا وَنَأْكُلَ مِنْهَا يَعْنِي فَوْقَ ثَلَاثٍ

جابر وائی مونږ به د قربانئ غوښه د درے ورځو نه زیاته نه ساتله بیا جناب رسول الله ﷺ مونږ ته حکم اوکړو د هغے نه د توښے جوړلو او د درے ورځو نه زیات د خوړلو.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا نَتَزَوَّدُهَا إِلَى الْمَدِينَةِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جابر نه روایت دے چه مونږ به د قربانئ د غوښے توښه جوړوله د مدینے پورے د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَهْلَ الْمَدِينَةِ لَا تَأْكُلُوا لُحُومَ الْأَضَاحِيِّ فَوْقَ ثَلَاثٍ وَقَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَشَكَوْا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ لَهُمْ عِيَالًا وَحَشَمًا وَخَدَمًا فَقَالَ كُلُوا وَأَطْعِمُوا وَاحْبِسُوا أَوْ ادَّخِرُوا قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى شَكَّ عَبْدُ الْأَعْلَى

د ابو سعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے د مدینے خلقو! مه خورئ د قربانو غوښو لره د درے ورځو نه زیاته. خلقو حضرت ﷺ ته شکایت اوکړو. چه حضرت! زمونږ بال بچ او نوکران خدمتګاران دی (د دے وجے نه مونږ ته د غوښے د ایخودلو ضرورت پیښیږی) حضرت ﷺ اوفرمائیل خورئ او ساتئ ئے یا ئے ذخیره کوئ ابن مثنی وائی عبد الاعلی ته په دے کښې شك دے.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ ضَحَّى مِنْكُمْ فَلَا يُصْبِحَنَّ فِي بَيْتِهِ بَعْدَ ثَالِثَةٍ شَيْئًا فَلَمَّا كَانَ فِي الْعَامِ الْمُقْبِلِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ نَفْعَلُ

د سلمه بن اکوع نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه ستاسو نه قربانی کوی نو د دریمے ورځے نه پس دِ د هغوی په کور کښې څۀ پاتے نۀ وی (یعنی د قربانئ د غوښے نه ټوله د خرچه کوی) هر کله چه بل کال راغے نو خلقو عرض اوکړو یا رسول الله!

كُنَّا فَعَلْنَا عَامَ أَوَّلَ فَقَالَ لَا إِنَّ ذَاكَ عَامٌ كَانَ النَّاسُ فِيهِ بِجَهْدٍ فَأَرَدْتُ أَنْ يَفْشُوَ فِيهِمْ

موږ به هم هغه شان کوو څنګه چه مو په مخکښې کال کړی وو حضرت ﷺ لوفرمائیل نه هغه کال د محتاجۍ وو. نو ما دا غوښتله چه تولو خلقو ته غوښنه میلاؤ شي.

عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ ذَبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِيَّتَهُ ثُمَّ قَالَ يَا ثَوْبَانُ أَصْلِحْ لَحْمَ هَذِهِ فَلَمْ أَزَلْ أُطْعِمُهُ مِنْهَا حَتَّى قَدِمَ الْمَدِينَةَ

د ثوبانؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ خپله قربانی ذبحه کړه او بیانے اوفرمائیل اے ثوبان دد ے غوښنه په حفاظت سره اوساته ما به په هغوی باند ے هغه غوښنه خورله ترد ے پور ے چه مدینے منور ے ته راغلو[1].

عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د معاویه بن صالح نه په دغه اسناد سره روایت د ے.

عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ أَصْلِحْ هَذَا اللَّحْمَ قَالَ فَأَصْلَحْتُهُ فَلَمْ يَزَلْ يَأْكُلُ مِنْهُ حَتَّى بَلَغَ الْمَدِينَةَ

د ثوبانؓ نه روایت د ے چه د رسول الله ﷺ آزاد کړے غلام وو. هغوی وائی ما ته په حجة الوداع کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یا ثوبان دا غوښنه وریته کړ ے کیږده. ما وریته کړه بیا به رسول الله ﷺ د هغے نه خورله ترد ے پور ے چه مدینے ته اورسیدو.

عَنْ يَحْيَى بْنِ حَمْزَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَقُلْ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ

د یحیٰی بن حمزه نه په دغه اسناد سره روایت د ے مګر په د ے کښې "حجة الوداع" لفظ نشته د ے.

عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا وَنَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُومِ الْأَضَاحِيِّ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَأَمْسِكُوا مَا بَدَا لَكُمْ وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيذِ إِلَّا فِي سِقَاءٍ فَاشْرَبُوا فِي الْأَسْقِيَةِ كُلِّهَا وَلَا تَشْرَبُوا

د حضرت بریدهؓ نه روایت د ے چه ما تاسو لره منع کړی وئ د قبرونو د زیارت کولو نه اوس د هغوی زیارت کوئ او ما تاسو منع کړی وئ د قربانئ غوښنے لره د در ے ورځو نه زیات د ایخودلو نه اوس ئے اېږدئ د کومے پور ے چه غواړئ او ما تاسو منع کړی وئ د نبیذ د جوړولو نه علاوه د مشك نه په نورو لوښنو کښې. اوس چه په کوم لوښنی کښې غواړئ جوړوئ لیکن مه څښئ نشے کولو والا

---

[1] نوویؒ وئیلی دی دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه په سفر کښې توښنه ایخودل د توکل خلاف نه دی. او دا هم معلومه شوه چه مسافر لره قربانی روا ده ناروا نه ده. لکه څنګه چه مقیم لره روا ده او زموږ د اکثر علماؤ دغه مذهب د ے. او د نخعیؒ او ابوحنیفهؒ په نزد په مسافر باند ے قربانی نشته د ے او مالكؒ وئیلی دی چه په مسافر باند ے په منیٰ او مکه کښې قربانی شته د ے.

مُسْكِرًا

عَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ فَذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ أَبِي سِنَانٍ

څیزونه[1]

د بریدهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه ما تاسو منع کړی وئ. (مخکښې ئے د پورتنی) د ابی سنان د حدیث هم معنی حدیث بیان کړو.

بَابُ الْفَرَعِ وَالْعَتِيرَةِ

باب: د فرع او د عتیره بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا فَرَعَ وَلَا عَتِيرَةَ زَادَ ابْنُ رَافِعٍ فِي رِوَايَتِهِ وَالْفَرَعُ أَوَّلُ النِّتَاجِ كَانَ يُنْتَجُ لَهُمْ فَيَذْبَحُونَهُ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی نه فرع څۀ څیز دے نۀ عتیره. ابن رافع په خپل روایت کښې دومره زیاته کړے ده چه فرع دا وښے اولنے بچے دے چه هغه به مشرکانو ذبح کولو[2].

بَاب نَهْيِ مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِ عَشْرُ ذِي الْحِجَّةِ وَهُوَ مُرِيدُ التَّضْحِيَةِ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ شَعَرِهِ أَوْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا

باب: کوم سړے چه قربانے والاوی هغه دِ د ذی الحجے د رومبنی تاریخ نه د قربانئ پورے ویښته او نوکونه نۀ کټ کوی

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَخَلَتِ الْعَشْرُ وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَمَسَّ مِنْ شَعَرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا قِيلَ لِسُفْيَانَ فَإِنَّ بَعْضَهُمْ لَا يَرْفَعُهُ قَالَ

د مؤمنانو د مور ام سلمهؓ نه روایت دی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه د ذی الحجے لس راشی (یعنی رومبے تاریخ ئے شروع شی) او ستاسو نه د یو کس د قربانئ اراده وی نو هغه دِ د خپلو ویښتو او نوکونو نه څۀ نۀ اخلی. سفیان (چه دد ے حدیث راوی دے) ددے

---

[1] نووی ونیلی دی په دے حدیثونو کښې د ناسخ او منسوخ دواړو بیان دے. او نسخ کله په دغه شان معلومیږی کله د صحابی د وینا نه لکه چه وائی آخر امر د حضرتﷺ اودس نۀ کول وو د هغه څیزونو په خوړلو سره چه هغه په اُور سره پاخۀ شوی وی. او کله د تاریخ نه هر کله چه ممکن نه وی او کله په اجماع سره لکه نسخ د شراب څکونکی د قتل. او اجماع ناسخ نۀ ده لیکن د ناسخ د وجود دلیل دے. انتهی

[2] او عتیره هغه ذبیحه ده چه د رجب د میاشتے په اولو لسو ورځو کښې به ئے کوله هغے ته به ئے رجبی ونیلو. او ځنو ونیلی دی چه فرع به هغه سړی کوله د چا چه به سل اوښان برابر شو نو هغه به دا وښے رومبے بچے ذبح کولو د بتانو په نامه باندے. او دا دواړه د جاهلیت د زمانے رسمونه وو حضرتﷺ هغے لره موقوف کړل. او اوئے فرمائیل چه دد ے څۀ اصل نشته دے اوس کچرے څوک د خدائے تعالی دپاره دا کار کوی نو جائز دے او په نورو حدیثونو کښې دد ے اجازت راغلے دے.

لٰكِنِّي أَرْفَعُهُ

حدیث په باره کښې هغوی ته چا اووے. بعضے خلق دے حدیث لره مرفوع کوی نه هغوی اووے زهٔ خونے مرفوع کوم[1].

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ تَرْفَعُهُ قَالَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ وَعِنْدَهُ أُضْحِيَّةٌ يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَأْخُذَنَّ شَعْرًا وَلَا يَقْلِمَنَّ ظُفُرًا

د حضرت ام سلمهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه د ذی الحجے لس راشی او قربانی موجوده وی هغه چا ته چه هغه قربانی کول غواړی نو خپل ویښتهٔ د نهٔ اخلی او نوکونه د نهٔ کټ کوی.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمْ هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلْيُمْسِكْ عَنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ

د مؤمنانو د مور حضرت ام سلمهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه تاسو د لوئے اختر میاشت اووینئ او ستاسو نه څوک قربانی کول غواړی. نو خپل ویښتهٔ او نوکونه د هم دغسے پریږدی.

عَنْ عُمَرَ أَوْ عَمْرِو بْنِ مُسْلِمٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د عمرؓ یا عمرو بن مسلمؓ نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ تَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَنْ كَانَ لَهُ ذِبْحٌ يَذْبَحُهُ فَإِذَا أُهِلَّ هِلَالُ ذِي الْحِجَّةِ فَلَا يَأْخُذَنَّ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا مِنْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا حَتَّى يُضَحِّيَ

د مؤمنانو د مور حضرت ام سلمهؓ نه روایت دے د چا سره چه څناور وی د ذبح کولو دپاره. او د لوئے اختر میاشت رااوخیژی نو خپل ویښتهٔ او نوکونه به نهٔ اخلی. د کومے پورے چه ئے قربانی کړے نهٔ وی.

عَنْ عَمْرِو بْنِ مُسْلِمِ بْنِ عَمَّارٍ اللَّيْثِيِّ قَالَ كُنَّا فِي الْحَمَّامِ قُبَيْلَ الْأَضْحَى فَاطَّلَى فِيهِ نَاسٌ فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْحَمَّامِ إِنَّ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ يَكْرَهُ هَذَا أَوْ يَنْهَى عَنْهُ فَلَقِيتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ يَا ابْنَ أَخِي هَذَا حَدِيثٌ قَدْ نُسِيَ وَتُرِكَ حَدَّثَتْنِي أُمُّ سَلَمَةَ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى

د عمرو بن مسلم بن عمار لیثیؓ نه روایت دے وائی چه مونږ په حمام کښې وو د لوئے اختر نه لږ شان مخکښې نو څنے خلقو نوره یعنی بال صفا دارو او لګول څنے حمام والا وو اووے چه سعید بن المسیب به دے ته مکروه وئیل یا ددے نه منع کوی. بیا زهٔ د سعید ابن المسیب سره میلاؤ شوم او هغوی ته مے بیان اوکړو. هغوی اووے اے ورارهٔ خما! (لاځئ) دا خو د حدیث مضمون دے. چه خلقو هیر کړے دے یا ئے پریخودے دے. او اوئے وئیل چه ما ته

---

[1] نووئؒ وئیلی دی د څنے علماؤ عمل په دغه حدیث باندے دے. او د هغوی په نیز د انهی د حرمت دپاره ده. د احمدؒ او اسحاقؒ او داؤدؒ دغه قول دے او د شافعیؒ په نیز د انهی په طور د کراهت تنزیهی ده. او د ابوحنیفهؒ په نیز کراهت تنزیهی هم نشته دے. او د مالکؒ نه دغه دوه روایتونه دی انتهی مختصراً

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِمَعْنَى حَدِيثِ مُعَاذٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ أَخْبَرَتْهُ وَذَكَرَ النَّبِيَّ ﷺ بِمَعْنَى حَدِيثِهِمْ

ام سلمه حدیث بیان کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هم دغه کوم چه پورته تیر شو.

ام سلمهؓ چه د نبی ﷺ زوجه مطهره وه نه روایت دے د پورتنو حدیثونو پشان.

بَاب تَحْرِيمِ الذَّبْحِ لِغَيْرِ اللهِ تَعَالَى وَلَعْنِ فَاعِلِهِ

باب: څوك چه د الله تعالی نه سوا د بل چا د تعظیم دپاره څاروے ذبح کړی هغه ملعون دے او ذبیحه حرامه ده

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ عَامِرِ بْنِ وَاثِلَةَ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسِرُّ إِلَيْكَ قَالَ فَغَضِبَ وَقَالَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسِرُّ إِلَيَّ شَيْئًا يَكْتُمُهُ النَّاسَ غَيْرَ أَنَّهُ قَدْ حَدَّثَنِي بِكَلِمَاتٍ أَرْبَعٍ قَالَ فَقَالَ مَا هُنَّ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ قَالَ لَعَنَ اللهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ وَلَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ وَلَعَنَ اللهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا وَلَعَنَ اللهُ مَنْ غَيَّرَ مَنَارَ الْأَرْضِ

د ابوالطفیل بن عامر بن واثلهؓ نه روایت دے چه زهٔ د حضرت علیؓ سره ناست وم چه په دے کښې یو سړے راغے او اوئے وئیل چه رسول الله ﷺ به تا ته د نورو خلقو نه پټے خبرے ښودلے. دد ے په اوریدو حضرت علیؓ غصه شو او اوئے وئیل. حضرت ﷺ ما ته یو څیز داسے نهٔ دے ښودلے چه هغه ئے د نورو خلقو نه پټ کړے وی. مگر حضرت ﷺ ما ته څلور خبرے ښودلے دی. هغه سړی اووے هغه څهٔ دی؟ یاامیر المؤمنین! حضرت علیؓ اوفرمائیل لعنت کړے دے الله تعالی په هغه سړی باندے چه هغه پخپل پلار لعنت کوی. لعنت دوی د الله پاك په هغه چا باندے چه هغه د الله نه سوا د بل چا په نوم ذبحه اوکړی او لعنت د وی د الله پاك په هغه چا باندے چه هغه بدعتی له ځائے ورکړی. او لعنت د وی د الله پاك په هغه چا باندے چه هغه د زمکے نخښنونه بدلوی[1].

[1] خکه چه حضرت ﷺ پیغمبر وو او هغوی ته د ټول امت د خلقو تعظیم منظور وو. څهٔ چه هغوی ښودل او ایزده کول هغه ئے ټولو ته ښودل دا د رافضیانو غلط گمان دے چه هغوی حضرت علیؓ ته خاص خاص او مزیدار علوم ښودلی دی او د امت خلقو ته ئے نهٔ دی ښودلی معاذ الله! په دې کښې د حضرت ﷺ په نبوت باندے یو الزام راځی لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. دا حدیث د کتاب الحج په آخر کښې تیر شوے دے. نوویؒ وئیلی دی چه د الله تعالی نه علاوه د بل چا دپاره ذبح کول دادی چه د الله نه علاوه د بل چا نوم پرے واخلی او ذبح ئے کړی. لکه د بت یا د صلیب یا د موسیٰ یا د عیسیٰ یا د کعبے یا پشان دد ے بل څهٔ دا ټول حرام دی او هغه ذبحه شوے څیز مردار دے خواه کهٔ ذبحه کونکے مسلمان وی یا نصرانی وی یا یهودی وی په دے باندے امام شافعی نص کړے دے او زمونږ د

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ قُلْنَا لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَخْبِرْنَا بِشَيْءٍ أَسَرَّهُ إِلَيْكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا أَسَرَّ إِلَيَّ شَيْئًا كَتَمَهُ النَّاسَ وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ لَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ وَلَعَنَ اللهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا وَلَعَنَ اللهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَيْهِ وَلَعَنَ اللهُ مَنْ غَيَّرَ الْمَنَارَ

د ابوالطفیل نه روایت دے وائی چه مونږ حضرت علی ؓ ته اووے هغه خبره مونږ ته اوښایه کومه چه رسول الله ﷺ تا ته پټه ښودلے ده. هغوی اووے حضرت ﷺ یوه خبره ما ته د خلقو نه پټه نۀ ده ښودلے. لیکن ماد حضرت ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو لعنت کړے دے الله پاك په هغه سړی باندے چه هغه ځاروی حلال کړی علاوه د الله ؓ نه د بل چا دپاره. او لعنت کړے دے الله تعالی په هغه چا باندے چه هغه لعنت کوی په خپل پلار مور باندے. او لعنت کړے دے الله تعالی په هغه چا باندے چه بدل کړی د زمکے نخښنو لره. (ځکه چه په دے کښې مسافرو ته تکلیف وی)

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ سُئِلَ عَلِيٌّ أَخَصَّكُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ فَقَالَ مَا خَصَّنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ لَمْ يَعُمَّ بِهِ النَّاسَ كَافَّةً إِلَّا مَا كَانَ فِي قِرَابِ سَيْفِي هَذَا قَالَ فَأَخْرَجَ صَحِيفَةً مَكْتُوبٌ فِيهَا لَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ وَلَعَنَ اللهُ مَنْ سَرَقَ مَنَارَ الْأَرْضِ

د ابو الطفیل نه روایت دے چه د حضرت علی کرم الله وجهه نه تپوس اوکړے شو چه آیا خاص کړے دے رسول الله ﷺ تا لره په یوه خبره سره. هغوی اووے زۀ ئے په یوه داسے خبره نۀ یم خاص کړے چه هغه ئے نورو خلقو ته نۀ وی فرمائیلی. البته څو خبرے دی چه څما د تورے په غلاف کښې دی. بیا هغوی وائی چه یو کاغذ ئے رااوویستو چه په هغے کښې لیکلی وو لعنت کړے دے الله پاك په هغه چا باندے چه هغه ذبح کړی ځاروی لره د الله تعالی نه سوا د

ملګرو په دے باندے اتفاق دے. بیا کچرے ددے سره ئے د غیر الله د تعظیم او پرستش اراده وی نو هغه کفر دے. او کچرے ذبح کونکے ددے نه مخکښې مسلمان وی. نو په دے فعل سره به مرتد شی. او زمونږ د صحابو نه شیخ ابراهیم مروزی دا وئیلی دی چه د بادشاه د سورلۍ د راتلو په وخت چه کوم ځناور حلالولے شی. اهل بخارا د هغے د حرمت فتوی ورکوی ولے چه دا په مَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللهِ کښې داخل دی او رافعی وئیلی دی چه دغه ځناور د بادشاه د سورلۍ په خوشحالۍ کښې حلالولے شی نو دا هم داسے شوه لکه د عقیقے ذبحه او د حرام والی ئے څۀ وجه نشته دے. ددے د اردو کتاب مترجم وائی چه د رافعی قول به هغه وخت صحیح وی هر کله چه د ذبحے نه د هغوی نیت د غیر الله تعظیم نۀ وی بلکه ذبحه خاص د الله ؓ دپاره وی. د کومے د ذبحے نه چه د بادشاه عظمت او تقرب الی غیر الله منظور وی نو هغه ځاروے به حرام وی اګر کۀ په هغۀ باندے د الله تعالی نوم واخستے شی او دا مسئله اختلافی ده په دے کښې د فریقینو د طرفه جدا جدا رسالے مرتب شوے وی او دا احتیاط پکار دے چه د داسے ځاروی نه چه د غیر الله د تعظیم دپاره حلال شوے وی مطلقًا پرهیز اوشی اګر کۀ په هغۀ باندے د حلالولو په وخت د الله تعالی نوم اخستے شوے وی

وَلَعَنَ اللهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ وَلَعَنَ اللهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا

بل چا د پاره. او لعنت کړے دے الله تعالى په هغه چا باندے چه د زمکے نښے پټوی. او لعنت کړے دے الله په هغه کس باندے چه هغه لعنت وائی پخپل پلار باندے. او لعنت کړے دے الله تعالى په هغه چا باندے چه هغه خائے ورکړی بدعتی لره. (یعنی بدعتی لره خپل کور ته پریږدی. یا د هغهٔ مدد اوکړی. معاذ الله بدعت یعنی په دین کښ نوے خبرے راویستل چه د هغے دلیل د کتاب او سنت نه ثابت نهٔ وی خومره لوئے گناه ده. چه د بدعتی په مدد گار باندے لعنت شوے دے نو په بدعت راویستونکی باندے به خومره تکلیف وی الله د امان راکړی).

كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ

كتاب د شرابو په بيان كښې

بَاب تَحْرِيمِ الْخَمْرِ

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ أَصَبْتُ شَارِفًا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَغْنَمٍ يَوْمَ بَدْرٍ وَأَعْطَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَارِفًا أُخْرَى فَأَنَخْتُهُمَا يَوْمًا عِنْدَ بَابِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَحْمِلَ عَلَيْهِمَا إِذْخِرًا لِأَبِيعَهُ وَمَعِي صَائِغٌ مِنْ بَنِي قَيْنُقَاعَ فَأَسْتَعِينَ بِهِ عَلَى وَلِيمَةِ فَاطِمَةَ وَحَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَشْرَبُ فِي ذَلِكَ الْبَيْتِ مَعَهُ قَيْنَةٌ تُغَنِّيهِ فَقَالَتْ أَلَا يَا حَمْزُ لِلشُّرُفِ النِّوَاءِ فَثَارَ إِلَيْهِمَا حَمْزَةُ بِالسَّيْفِ فَجَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا ثُمَّ أَخَذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا قُلْتُ لِابْنِ شِهَابٍ وَمِنَ السَّنَامِ قَالَ قَدْ جَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا فَذَهَبَ بِهَا قَالَ ابْنُ شِهَابٍ قَالَ عَلِيٌّ فَنَظَرْتُ إِلَى مَنْظَرٍ أَفْظَعَنِي فَأَتَيْتُ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ فَأَخْبَرْتُهُ الْخَبَرَ فَخَرَجَ وَمَعَهُ

باب : د شرابو د حرام والي بيان

د حضرت علی رض نه روایت دے چه ما ته یوه اوښه میلاؤ شوه د رسول الله ﷺ سره د بدر په مال غنیمت کښې او حضرت ﷺ ما ته یوه اوښه بله راکړه. ما هغه دواړه د یو انصاری په دروازه کښې کینښنولے. او زما اراده دا وه چه په دوی بانده اذخر (سرګړے) (چه یو قسم خوشبو دار واښهٔ دی) بار کړم او خرڅ ئے کړم. او زما سره یو زرګر هم وو د بنی قینقاع د قبیلے نه (چه د یهودو یوه قبیله وه) او ما ته مدد میلاؤ شو د حضرت فاطمے رض د ولیمے دپاره (یعنی د هغے سره د نکاح کولو په موقع ما ولیمه نهٔ وه کړے نو زما اراده دا وه چه سرګړے به خرڅ کړم څهٔ پیسے به اوګټم او ولیمه به اوکړم) او په دغه کور کښې (چه د کوم په دروازه کښې ما اوښے کینښنولے وے) حمزه بن عبد المطلب (د حضرت ﷺ ترهٔ سید الشهداء رض) شراب څښلی وو (د هغه وخته پورے شراب حرام شوی نهٔ وو) د هغوی سره یوه وینځه وه چه هغے سندرے وئیلے. آخر هغے دا سندره اووے "الا یا حمزه للشرف النواء" ددے په اوریدو حمزه توره راواخسته او منډے ئے کړے او د هغه (اوښانو) کوهونه ئے کټ کړل او واخستل ئے او د هغوی تشی ئے اوشلول او اینه ئے ترے واخسته ابن جریج وائی ما ابن شهاب ته اووے. چه کوب ئے هم واخستو یا نهٔ هغوی اووے چه کوب خو ئے پریکړے ددے دپاره وو. حضرت علی رض وائی ما چه (د خپلو اوښانو) دا حال اولیدهٔ نو ډیر خفه شوم او د رسول الله ﷺ خوا له راغلم او د حضرت ﷺ سره زید بن حارثه رض هم وو او ما ورته

زَيْدٌ وَانْطَلَقْتُ مَعَهُ فَدَخَلَ عَلَى حَمْزَةَ فَتَغَيَّظَ عَلَيْهِ فَرَفَعَ حَمْزَةُ بَصَرَهُ فَقَالَ هَلْ أَنْتُمْ إِلَّا عَبِيدٌ لِأَبَائِي فَرَجَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَهْقِرُ حَتَّى خَرَجَ عَنْهُمْ

توله قصه اوكړه. حضرت ﷺ د زيد سره رااووتو او زۀ ورسره هم لاړم ترڅو پورے چه د حمزه خواته اورسيدو. حضرت ﷺ حمزه ته په غصه شو. حمزه سترګے اوچتے كړے اوئے ليدۀ او اوئے وئيل تاسو خو ټول خو خما د پلار نيكۀ غلام ئے. ددے په اوريدو جناب رسول الله ﷺ په اُلټه خپو واپس شو. ترڅو پورے چه د هغه ځائے نه اووتو (ځكه چه حضرت ته دا معلومه شوه چه حمزه په نشه كښې دے حصاريدل بنۀ نۀ دی)[1].

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د ابن جريج نه په دغه اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنْ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَلِيًّا قَالَ كَانَتْ

امام همام حضرت حسين بن علی محبوب رسول الله ﷺ نه روايت

---

[1] مغنيے دا اشعار اولوستل. وَهُنَّ مُعَقَّلَاتٌ بِالْفَنَاءِ - ضَعِ السِّكِّيْنَ فِي اللَّبَّاتِ مِنْهَا - وَضَرِّجْهُنَّ حَمْزَةُ بِدِمَاءِ - وَعَجِّلْ مِنَ الْطَّائِبِهَا لِشَرْبٍ - قَدِيْدًا مِنْ طَبِيْخٍ أَوْشَوَاءِ

ددے اشعارو ترجمه په نظم دا ده. (نظم) اے حمزه لاړ شه په خربو اوښو پسے. چه ستا په غولی كښې تړلی دی يو ځائے. د دوی په مرو زر چاړۀ راكاږه. او په وينو كښې ئے ميلاؤ كړه. او ښے ټكړے ترے وريتے كړه. مزه وی د غوښے د ورتے.

نووی وئيلی دی حضرت سيد الشهداء امير حمزه چه كوم كار اوكړو يعنی د شرابو څښل او د اوښانو نه كوبونه كټ كول او د هغوی تشی ځيرل او د هغوی غوښه خوړل په دے كښې د يو كار ګناه په هغوی باندے نشته دے. ولے چه شراب څښل خو په هغه زمانه كښې مباح وو. او كوم سړے چه دا وائی چه متوالا كيدل هميشه حرام راغلی دی. هغه غلط وائی د هغے څۀ اصل نشته دے. اوس پاتے شو باقی كار هغه په نشه كښې ترے اوشو. نو د هغه وخت پرے څۀ تكليف نۀ دے پاتے. لكه چه څوك په ضرورت سره دوائی اوڅښی او بيا د هغۀ عقل لاړ شی. يا په غلطئ سره د سركے په ځائے شراب اوڅښی. يا په زور پرے څوك شراب اوڅښوی. او بيا په نشه كښې څۀ كار د ګناه اوكړی نو په دۀ باندے به څۀ ګناه نۀ وی. البته كۀ د چا مال نقصان كړی نو تاوان پرے لازم دے. او كيدے شی امير حمزه هغه تاوان حضرت علی ته وركړے وی يا حضرت علی معاف كړے وی. يا حضرت ﷺ د حمزه د طرفنه ادا كړے وی. او د عمر بن شيبه په كتاب كښې دی چه حضرت ﷺ د حمزه نه د هغه دواړو اوښو تاوان اخستے وو. او اجماع ده د عالمانو په دے باندے چه متوالا يا پاګل د چا مال تلف كړی نو تاوان به پرے لازم وی. او دا چه كوم كوب حمزه د اوښو نه كټ كړو كچرے د حلالولو نه پس ئے كټ كړے وی نو حلال وو. او كۀ د حلالولو نه مخكښې ئے كټ كړے وی نو حرام وو په اجماع سره. ليكن د هغے په خوراك باندے په حمزه څۀ ګناه نشته دے ولے چه هغه د نشے په حالت كښې وو او په دغه حالت كښې تكليف نشته دے. انتهٰی مختصراً.

دا حمزه د حضرت علی او زيد په ليدو سره په نشه كښې اووے. زيد خو واقعی د رسول الله ﷺ غلام وو. او حضرت علی د حمزه وړوكے او د بچی پشان وو. هغه هم يو قسم غلام شو. او خطاب ئے د رسول الله ﷺ طرفته نۀ وو. او كچرے د هغوی په طرف هم وو نو نشه كښې دا خبره د هغۀ د خلے نه اووته. او په داسے حالت كښې پرے څۀ تكليف نشته دے. ددے نه علاوه حمزه د رسول الله ﷺ تره هم وو. او په اعتبار د خپلولئ د رشتے ئے مشر هم وو. دويم دا چه حمزه د خپل پلار او نيكۀ غلام اووے نه خپل او د حمزه پلار عبد الملطب وو. او عبد المطلب د جناب رسول الله ﷺ نيكۀ وو.

لِي شَارِفٌ مِنْ نَصِيبِي مِنَ الْمَغْنَمِ يَوْمَ بَدْرٍ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَانِي شَارِفًا مِنَ الْخُمُسِ يَوْمَئِذٍ فَلَمَّا أَرَدْتُ أَنْ أَبْتَنِيَ بِفَاطِمَةَ بِنْتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاعَدْتُ رَجُلًا صَوَّاغًا مِنْ بَنِي قَيْنُقَاعَ يَرْتَحِلُ مَعِي فَنَأْتِي بِإِذْخِرٍ أَرَدْتُ أَنْ أَبِيعَهُ مِنَ الصَّوَّاغِينَ فَأَسْتَعِينَ بِهِ فِي وَلِيمَةِ عُرْسِي فَبَيْنَا أَنَا أَجْمَعُ لِشَارِفَيَّ مَتَاعًا مِنَ الْأَقْتَابِ وَالْغَرَائِرِ وَالْحِبَالِ وَشَارِفَايَ مُنَاخَانِ إِلَى جَنْبِ حُجْرَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَجَمَعْتُ حِينَ جَمَعْتُ مَا جَمَعْتُ فَإِذَا شَارِفَايَ قَدِ اجْتُبَّتْ أَسْنِمَتُهُمَا وَبُقِرَتْ خَوَاصِرُهُمَا وَأُخِذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا فَلَمْ أَمْلِكْ عَيْنَيَّ حِينَ رَأَيْتُ ذَلِكَ الْمَنْظَرَ مِنْهُمَا قُلْتُ مَنْ فَعَلَ هَذَا قَالُوا فَعَلَهُ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَهُوَ فِي هَذَا الْبَيْتِ فِي شَرْبٍ مِنَ الْأَنْصَارِ غَنَّتْهُ قَيْنَةٌ وَأَصْحَابَهُ فَقَالَتْ فِي غِنَائِهَا أَلَا يَا حَمْزُ لِلشُّرُفِ النِّوَاءِ فَقَامَ حَمْزَةُ بِالسَّيْفِ فَاجْتَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا فَأَخَذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا فَقَالَ عَلِيٌّ فَانْطَلَقْتُ حَتَّى أَدْخُلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ قَالَ فَعَرَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَجْهِي الَّذِي لَقِيتُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

دے چه حضرت علیؓ ونیلی دی چه ما ته د بدر د مالِ غنیمت نه یوه اوښه میلاو شوه. او په دغه ورځ رسول اللهﷺ د خُمس نه یوه اوښه ما ته راکړه. پس ما غوښتل چه صحبت کوم د حضرت فاطمة الزهراءؓ سره چه د رسول اللهﷺ لور ده. نو ما د بنی قینقاع قبیلے د یو زرګر سره وعده اوکړه چه هغه به خما سره ملګرے لاړ شی او مونږ دواړه به په یو ځائے سرګړے راوړو او په زرګرانو به ئے خرڅ کړو او په هغے سره به زهٔ د خپل وادهٔ ولیمه اوکړم. نو ما د خپلو دواړو اوښو سامان جمع کولو. کته، رکابونه، رسئ او هغه دواړه ناستے وے د یو انصاری د کوډګئ په یو طرف کښ څهٔ وخت چه ما دا سامان جمع کولو چه جمع مے کړو نو څهٔ ګورم چه د دواړو اوښو کوبونه کټ شوی دی او تشی ئے خیرے شوی دی. ما چه دا اولیدل نو پاتے کیدے نهٔ شوم او خما سترګے نه اوچیدے (یعنی زهٔ په ژړا شوم او دا ژړل د دنیا په طمع نهٔ وو بلکه دا د فاطمة زهراءؓ او رسول اللهﷺ په حق کښ چه کوم تقصیر راغے په دے خیال سره وو) ما تپوس اوکړو چه دا کار چا اوکړو؟ خلقو اووے حمزه بن عبدالمطلب او هغوی په دے کور کښ دی د انصارو د یو جماعت سره چه هغوی شراب څښی. د هغوی په مخکښ یو سندره ویونکی سندرے وائی او د هغوی ملګرو خو په سندره کښ دا اووے اے حمزه پاځه او دغه خړے اوښے واخله په دغه وخت حمزه توره واخسته او پاڅیدهٔ او د هغوی کوبونه ئے کټ کړل او سینه ئے ورله اوشلوله او جګر (اینه) ئے ترے راواویسته حضرت علیؓ وائی د دے په اوریدو زهٔ روان شوم او د رسول اللهﷺ خواله لاړم. هلته زید بن حارثؓ ناست وو. پس رسول اللهﷺ زهٔ د لیدو سره اوپیژندم چه خما په مخ باندی د

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَالَكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ وَاللهِ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ قَطُّ عَدَا حَمْزَةُ عَلَى نَاقَتَيَّ فَاجْتَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا وَهَا هُوَ ذَا فِي بَيْتٍ مَعَهُ شَرْبٌ قَالَ فَدَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرِدَائِهِ فَارْتَدَاهُ ثُمَّ انْطَلَقَ يَمْشِي وَاتَّبَعْتُهُ أَنَا وَزَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ حَتَّى جَاءَ الْبَابَ الَّذِي فِيهِ حَمْزَةُ فَاسْتَأْذَنَ فَأَذِنُوا لَهُ فَإِذَا هُمْ شَرْبٌ فَطَفِقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلُومُ حَمْزَةَ فِيمَا فَعَلَ فَإِذَا حَمْزَةُ مُحْمَرَّةٌ عَيْنَاهُ فَنَظَرَ حَمْزَةُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ إِلَى رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى سُرَّتِهِ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى وَجْهِهِ فَقَالَ حَمْزَةُ وَهَلْ أَنْتُمْ إِلَّا عَبِيدٌ لِأَبِي فَعَرَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ثَمِلٌ فَنَكَصَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَقِبَيْهِ الْقَهْقَرَى وَخَرَجَ وَخَرَجْنَا مَعَهُ

خفګان اثر وو. او اوئے فرمائیل څۀ شوی دی تا لره. ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! د نن په شان ورځ ما چرته نۀ ده لیدلے.حمزه خما په دواړو اوښو باندے ظلم کړے دے د هغوی کوبونه ئے کټ کړی دی او تښی ئے ورله شلولی دی. او د هغوی په هغه کور کښں دے د څو شرابیانو سره. ددے په اوریدو رسول الله ﷺ خپل څادر اوغوښتو او هغه ئے پسر کړو بیا پیاده روان شو. زۀ او حارث بن زید ؓ دواړه پسے روستو وو تردے پورے چه حضرت ﷺ هغه دروازے له راغے چرته چه حمزه وو. او د دننه راتلو اجازت ئے اوغوښتو.خلقو اجازت ورکړو. چه اوئے کتل نو هغه شراب څښنلی وو. رسول الله ﷺ حمزه ؓ ته په دغه کار باندے ملامته ونیل شروع کړل او د حمزه سترګے سرے وے (د نشے نه) هغوی رسول الله ﷺ لره اولیدۀ.بیائے د حضرت ﷺ زنګونانو ته اوکتل بیا چه ئے سترګے اوچتے کړے نود نوم پورے ئے اوکتل. بیائے سترګے اوچتے کړے نو مخ مبارک ئے ورله اولیدۀ. بیائے اووے نۀ یئ تاسو مګر خما د پلار نیکۀ غلام ئے. بیا رسول الله ﷺ اوپیژندو چه هغه په نشه کښں مست دے حضرت ﷺ په اُلټه خپو واپس شو او بهر راووتو او مونږ هم د هغوی سره راووتو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د زهری نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ سَاقِيَ الْقَوْمِ يَوْمَ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ فِي بَيْتِ أَبِي طَلْحَةَ وَمَا شَرَابُهُمْ إِلَّا الْفَضِيخُ الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ فَإِذَا مُنَادٍ يُنَادِي فَقَالَ اخْرُجْ فَانْظُرْ فَخَرَجْتُ فَإِذَا مُنَادٍ يُنَادِي أَلَا إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ قَالَ فَجَرَتْ فِي سِكَكِ

د انس بن مالك ؓ نه روایت دے چه په کومه ورځ چه شراب حرام شو نو زۀ د ابوطلحه ؓ په کور کښں د خلقو ساقی وم. او د هغوی شراب نۀ وو مګر د لوندو کهجورو یا د اوچو کهجورو چه ناڅاپه مونږ د یو سړی چغے وهل واوریدے. ابوطلحه ؓ اووے بهر اوځه او اوګوره (چه څۀ دی) زۀ په بره راووتم نو هغه داسے آواز کولو خبردار شئ شراب

الْمَدِينَةِ فَقَالَ لِي أَبُو طَلْحَةَ اخْرُجْ فَأَهْرِقْهَا فَهَرَقْتُهَا فَقَالُوا أَوْ قَالَ بَعْضُهُمْ قُتِلَ فُلَانٌ قُتِلَ فُلَانٌ وَهِيَ فِي بُطُونِهِمْ قَالَ فَلَا أَدْرِي هُوَ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ قَالَ سَأَلُوا أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الْفَضِيخِ فَقَالَ مَا كَانَتْ لَنَا خَمْرٌ غَيْرَ فَضِيخِكُمْ هَذَا الَّذِي تُسَمُّونَهُ الْفَضِيخَ إِنِّي لَقَائِمٌ أَسْقِيهَا أَبَا طَلْحَةَ وَأَبَا أَيُّوبَ وَرِجَالًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِنَا إِذْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ هَلْ بَلَغَكُمُ الْخَبَرُ قُلْنَا لَا قَالَ فَإِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ فَقَالَ يَا أَنَسُ أَرِقْ

حرام شوی دی بیا د تولے مدینے په لارو کښې دا آوازونه اوشو. ابوطلحهؓ ما ته اووے پاسه اوتوئ کړه شرابو لره. (کوم چه باقی دی) ما توئ کړل بیا خنو اوے فلانے او فلانے تباه شو د هغوی په ګیډو کښې شراب دی (یعنی هغوی د حرام والی نه مخکښې ځنبلی وو) په دے موقع دا آیت نازل شو. لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا د اخره پورے[1].

د عبد العزیز بن صهیب نه روایت دے چه د انس بن مالکؓ نه خلقو تپوس اوکړو د فضیخ په باره کښې (فضیخ هغه شراب دی چه د نیم پخته کهجورونه جوړیږی هغه را اوشوکوی او په اوبو کښې ئے واچوی او پکښې پرتے وی تو دے پورے چه زګ او نیسی. هغوی وائی د فضیخ نه علاوه زمونږ بل څۀ خمر نۀ وو) او زۀ اودریدم دغه فضیخ مے په اوبوطلحهؓ او ابوایوبؓ او د انصارو په څو سړو باندے څکولو په خپل کور کښې چه په دے کښې یو سړے راغے او اوئے وئیل چه څۀ خبر رارسیدلے دے. مونږه اووے نۀ دے رارسیدلے. هغه اووے شراب حرام شو. ابوطلحهؓ اووے اے انس توئ کړه دغه

---

[1] یعنی کوم خلق چه ایماندار دی او نیك کار کوی په هغوی باندے څۀ وبال نشته د هغه عمل چه مخکښې ئے کړے وُی (د جهالت په وجه) هر کله چه د آئنده نه پرهیز اوکړی او ایمان دار دی او نیك کار کوی. نوویؒ وئیلی دی امام مسلمؒ چه په دی مقام باندے کوم حدیثونه نقل کړی دی دے نه معلومیږی چه تول هغه شرابو نه چه په هغے کښې نشه وی حرام دی او دغه تولو ته خمر وئیلے شی. خواه کۀ د کهجورو وی. یا د انګورو یا د وریشو یا د جوارو یا د ګبین دبل څۀ څیز دا تول حرام دی او خمر دی. زمونږ دغه مذهب دے. او دغه قول دے د مالكؒ او احمدؒ او د جمهورو سلفو خلفو. او بصرے والا څۀ خلق داسے وائی چه د تازه انګورو شیره حرامه ده. دغه شان د اوچو انګورو خوشتو شولو یا کچه شربت لیکن د پخو انګورو. او د کچه او پخو انګورو نه علاوه د نورو څیزونو صحیح دے د کومے پورے چه په هغے کښې نشه نۀ وی. او ابوحنیفهؒ وئیلی دی چه د کهجورو او انګورو شیره حرامه ده. لیکن د تازه انګورو کچه اوبۀ هغه خو لږے او ډیرے حرامے دی. خو چه هر کله ئے پخے کړی او دوه حصے په دریو کښې غائبے شی او یوه حصه پاتے شی نو حلال دی. او نبیذ د اوچو کهجورو او انګورو صحیح دے کچرے هغے لره لږ شان پوخ کړی. او د پخولو نه بغیر د لږو انګورو حرامه ده خو په څکونکو ئے حد نه پریوزی د کومے پورے چه نشه شوے نۀ وی. او د تازه انګورو شیره مطلقاً حرامه ده. او اختلاف د علماؤ په هغه شرابو کښې دے چه په هغے کښې نشه نۀ وی. لیکن کۀ په هغے کښې نشه وی نو هغه حرام دی بالاجماع د اهل اسلام. انتهٰی مختصراً

هٰذِهِ الْقِلَالَ قَالَ فَمَا رَاجَعُوهَا وَلَا سَأَلُوا عَنْهَا بَعْدَ خَبَرِ الرَّجُلِ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ إِنِّي لَقَائِمٌ عَلَى الْحَيِّ عَلَى عُمُومَتِي أَسْقِيهِمْ مِنْ فَضِيخٍ لَهُمْ وَأَنَا أَصْغَرُهُمْ سِنًّا فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ إِنَّهَا قَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ فَقَالُوا اكْفِئْهَا يَا أَنَسُ فَكَفَأْتُهَا قَالَ قُلْتُ لِأَنَسٍ مَا هُوَ قَالَ بُسْرٌ وَرُطَبٌ قَالَ فَقَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ أَنَسٍ كَانَتْ خَمْرَهُمْ يَوْمَئِذٍ قَالَ سُلَيْمَانُ وَحَدَّثَنِي رَجُلٌ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ ذٰلِكَ أَيْضًا

عَنِ الْمُعْتَمِرِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ أَنَسٌ كُنْتُ قَائِمًا عَلَى الْحَيِّ أَسْقِيهِمْ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ أَنَسٍ كَانَ خَمْرَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَأَنَسٌ شَاهِدٌ فَلَمْ يُنْكِرْ أَنَسٌ ذَاكَ وَقَالَ ابْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ عَنْ أَبِيهِ قَالَ حَدَّثَنِي بَعْضُ مَنْ كَانَ مَعِي أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا يَقُولُ كَانَ خَمْرَهُمْ يَوْمَئِذٍ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ أَسْقِي أَبَا طَلْحَةَ وَأَبَا دُجَانَةَ وَمُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ فِي رَهْطٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَدَخَلَ عَلَيْنَا دَاخِلٌ فَقَالَ حَدَثَ خَبَرٌ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ فَأَكْفَأْنَاهَا يَوْمَئِذٍ وَإِنَّهَا لَخَلِيطُ الْبُسْرِ وَالتَّمْرِ قَالَ قَتَادَةُ وَقَالَ أَنَسُ بْنُ

منګولره بیا چرته هم هغوی شراب نهٔ څښلو. نهٔ ئې د هغې د حال تپوس کولو د دے خبر نه پس

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه زهٔ ولاړ وے او د خپلے قبیلے په ترونو مے فضیخ څکولو. او په عمر کښ د ټولو نه ووړوکے وم چه په دے کښ یو سړے راغے او اوئے وئیل شراب حرام شو. هغوی اووے توئ کړه اے انسؓ شرابو لره. بیا ما توئ کړل. سلیمان تیمی وائی چه ما د انس نه تپوس اوکړو هغه شراب د څهٔ وو. هغوی اووے د نیم پخته او پخو کهجورو. ابوبکر بن انس وئیلی دی په دغه ورځو کښ خمر د هغوی دغه وو سلیمان وائی ما ته یو سړی بیان اوکړو هغه د انسؓ نه اوریدلی وو هغه دغه وئیل.

معتمر د خپل پلار نه روایت کړے دے هغوی اووے چه انسؓ وئیلی دی چه زهٔ ولاړ وم د خپلے قبیلے په خلقو مے شراب څکل د ابن علیه د حدیث پشان مګر هغهٔ اووے چه ابوبکر بن انس اووے چه دا هغه وخت د هغوی شراب وو او انسؓ موجود وو نو انسؓ د هغے نه انکار اونهٔ کړو او ابن الاعلی وئیلی دی چه مونږ ته معتمر حدیث بیان کړےدے د خپل پلار نه هغهٔ وئیلی دی چه ما ته حدیث بیان کړے دے هغه سړی چه خما سره وو هغهٔ اوریدلی وو د انسؓ نه چه هغهٔ وئیل چه دا هغه وخت د هغوی شراب وو.

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه ما او ابوطلحهؓ او ابو دجانهؓ او معاذ بن جبلؓ د انصارو په یو جماعت باندے شراب څکولو چه په دے کښ یو سړے دننه راغے او اوئے وئیل چه یو نوے خبر دے شراب حرام شو. بیا مونږ په دغه ورځ شراب توئ کړل او هغه شراب د نیم پخته او د وچو کهجورو وو. انسؓ وائی شراب چه کله حرام شو

مَالِكٍ لَقَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ وَكَانَتْ عَامَّةَ خُمُورِهِمْ يَوْمَئِذٍ خَلِيطَ الْبُسْرِ وَالتَّمْرِ

نو اكثر شراب د هغو دغه وو خليط يعنى پخته كهجورے او اوچے كهجورے ميلاؤ شوے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ إِنِّي لَأَسْقِي أَبَا طَلْحَةَ وَأَبَا دُجَانَةَ وَسُهَيْلَ بْنَ بَيْضَاءَ مِنْ مَزَادَةٍ فِيهَا خَلِيطُ بُسْرٍ وَتَمْرٍ بِنَحْوِ حَدِيثِ سَعِيدٍ

د انس بن مالك نه روايت دے هغوى اووے ما په ابوطلحه ابودجانة او په سهيل بن بيضاء باندے د يو مشك نه شراب څكل چه د نيم پخته او اوچو كهجورو وو (مخكښ د پورتنى د سعيد د حديث پشان (بيان كړو)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُخْلَطَ التَّمْرُ وَالزَّهْوُ ثُمَّ يُشْرَبَ وَإِنَّ ذَلِكَ كَانَ عَامَّةَ خُمُورِهِمْ يَوْمَ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ

د حضرت انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دى د اوچو او نيم پخته كهجورو د يو ځائے شريكولو نه او د هغے د څښلو نه او اكثر شراب د هغه خلقو دغه وو هر كله چه شراب حرام شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ كُنْتُ أَسْقِي أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ وَأَبَا طَلْحَةَ وَأُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ شَرَابًا مِنْ فَضِيخٍ وَتَمْرٍ فَأَتَاهُمْ آتٍ فَقَالَ إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ يَا أَنَسُ قُمْ إِلَى هَذِهِ الْجَرَّةِ فَاكْسِرْهَا فَقُمْتُ إِلَى مِهْرَاسٍ لَنَا فَضَرَبْتُهَا بِأَسْفَلِهِ حَتَّى تَكَسَّرَتْ

د انس بن مالك نه روايت دے چه ما په ابوعبيده او ابوطلحه او أبىّ بن كعب د فضيخ او كهجورو شراب څكولو چه په دے كښ يو راتلونكے راغے او اوئے وئيل شراب حرام شو. ابوطلحه اووے اے انسه پاسه او دا منګے مات كړه. نو ما د ګټے يو چتو لره اوچت كړو. او هغه منګے مے پرے دلاندے نه اووهو. او هغه منګے مات شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ لَقَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ الْآيَةَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ فِيهَا الْخَمْرَ وَمَا بِالْمَدِينَةِ شَرَابٌ يُشْرَبُ إِلَّا مِنْ تَمْرٍ

د حضرت انس بن مالك نه روايت دے چه الله تعالى هغه ايت نازل كړو چه په هغے كښ ئے شراب حرام كړل او په دغه وخت په مدينه كښ د څه قسم شراب نه وو چه څښلے به شو سوا د كهجورو نه

بَابُ تَحْرِيمِ تَخْلِيلِ الْخَمْرِ

باب: د شرابو نه سركه جوړول حرام دى

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْخَمْرِ تُتَّخَذُ خَلًّا فَقَالَ لَا

د انس نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړے شو چه د شرابو نه سركه جوړولے شو. حضرت ﷺ اوفرمائيل نه[1]

---

[1] نووى وائى چه د امام شافعى او جمهورو علماو دغه دليل دے چه د شرابو نه سركه جوړول صحيح نه دى او نه هغه په سركه كيدو سره پاكيږى. او د اوزاعى او ليث او ابوحنيفه په نز پاكيږى. (انتهى مختصراً)

بَابُ تَحْرِيمِ التَّدَاوِي بِالْخَمْرِ وَبَيَانِ أَنَّهَا لَيْسَتْ بِدَوَاءٍ

عَنْ طَارِقِ بْنِ سُوَيْدٍ الْجُعْفِيِّ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَمْرِ فَنَهَاهُ أَوْ كَرِهَ أَنْ يَصْنَعَهَا فَقَالَ إِنَّمَا أَصْنَعُهَا لِلدَّوَاءِ فَقَالَ إِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَاءٍ وَلَكِنَّهُ دَاءٌ

باب: په شرابو سره علاج كول حرام دى او هغه دوائى نۀ ده

طارق بن سويد جعفى د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو د شرابو په باره كښې. حضرت ﷺ منع كړو يائې ناخوښه كړو د هغې جوړولو لره. هغۀ اووے زۀ ئې د دوايئ دپاره جوړوم. حضرت اوفرمائيل هغه دوائى نۀ ده بلكه بيمارى ده[1].

بَابُ بَيَانِ أَنَّ جَمِيعَ مَا يُنْبَذُ مِمَّا يُتَّخَذُ مِنَ النَّخْلِ وَالْعِنَبِ يُسَمَّى خَمْرًا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ النَّخْلَةِ وَالْعِنَبَةِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ النَّخْلَةِ وَالْعِنَبَةِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ الْكَرْمَةِ وَالنَّخْلَةِ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي كُرَيْبٍ الْكَرْمِ وَالنَّخْلِ

باب: د كهجورو او د انګورو شراب هم خمر دى

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى شراب ددے دواړو اونو نه كيږى د كهجورو او د انګورو د اونے نه.

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه ما اوريدلى دى د رسول الله ﷺ نه چه حضرت ﷺ فرمائيل خمر ددے دواړو اونو نه كيږى د كهجورے او د انګور د اونے نه

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه خمر ددے دواړو اونو نه كيږى. د كرمه (انګور) او د نخله (كهجورے) نه. د ابوكريب په روايت كښې لفظ د كرم او د نخل راغلے دے[2].

---

[1] نوويؒ وئيلى دى ددے حديث نه معلومه شوه چه په شرابو سره دوائى كول يا هغه دوائى استعمالول چه په هغے كښې شراب وى حرام دى او دغه صحيح دے زمونږ د ملګرو په نز دغه شان شراب څښل حرام دى د تندے په حالت كښې ليكن كچرے نمرئ په مرئ كښې اونخلى او د هغے د تيرولو دپاره اوبۀ نۀ ميلاويږى او د هلاكت يقين ئې راشى نو د شرابو په يو ګوټ سره ئې تيرولے شى. انتهى مع زيادة

[2] نوويؒ وائى ددے حديثونو نه دا معلومه شوه چه كوم شراب جوړ كړے شى د نيم پخته كهجورو نه يا د انګورو نه هغه خمر دى او حرام دى په دے شرط چه نشه كوى. او دغه مذهب دے د جمهورو علماؤ. او ددے حديثونو دا مطلب نۀ دے چه د جوارو يا ګيهن يا وريشو هغه به خمر نۀ وى ځكه په نورو حديثونو كښې صفا موجود دى چه ددے نه هم خمر جوړيږى.

بَابُ كَرَاهَةِ انْتِبَاذِ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ مَخْلُوطَيْنِ

باب: کهجورے او انګور يو ځائے خوشتول مکروه دی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُخْلَطَ الزَّبِيبُ وَالتَّمْرُ وَالْبُسْرُ وَالتَّمْرُ

د حضرت جابرؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ منع کړے ده د انګورو او کهجورو يا د نيم پخته کهجورو او اوچو کهجورو د يو ځائی خوشتولو نه (ځکه چه داسے په نبيذ کښې زر نشه راځی او ښنبلو والا ترے خبر نۀ وی او دا کراهت تنزيهی دے او نبيذ حرام نۀ دی د کومے پورے چه په هغے کښې نشه نۀ وی او دغه قول دے د جمهورو علماؤ. او د ځنے مالکيؤ په نزد باندے حرام دی. او د ابوحنيفهؒ او ابويوسفؒ په نز په دے کښې کراهت هم نشته دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُنْبَذَ التَّمْرُ وَالزَّبِيبُ جَمِيعًا وَنَهَى أَنْ يُنْبَذَ الرُّطَبُ وَالْبُسْرُ جَمِيعًا

د جابر بن عبد الله انصاریؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ منع کړے ده د کهجورو او د انګورو د يو ځائے خوشتولو نه. او منع ئے کړے ده حضرتﷺ د پخو او د نيم پخته کهجورو د خوشتولو نه

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِؓ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَجْمَعُوا بَيْنَ الرُّطَبِ وَالْبُسْرِ وَبَيْنَ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ نَبِيذًا

د حضرت جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے وائی چه رسول اللهﷺ منع کړے د انګورو او کهجورو د يو ځائے خوشتولو نه او منع ئے کړے ده نيم پخته او پخو کهجورو د يو ځائے خوشتولو نه.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّؓ عَنْ رَسُولِ اللهِﷺ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُنْبَذَ الزَّبِيبُ وَالتَّمْرُ جَمِيعًا وَنَهَى أَنْ يُنْبَذَ الْبُسْرُ وَالرُّطَبُ جَمِيعًا

د جابر بن عبد الله انصاریؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ منع کړے ده د انګورو او د کهجورو د يو ځائے خوشتولو نه او پخے او نيم پخته کهجورو لره د يو ځائے خوشتولو نه

عَنْ أَبِي سَعِيدٍؓ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ أَنْ يُخْلَطَ بَيْنَهُمَا وَعَنِ التَّمْرِ وَالْبُسْرِ أَنْ يُخْلَطَ بَيْنَهُمَا

د ابوسعيد خدریؓ نه روايت دے چه نبیﷺ منع کړے ده د کهجورو او انګورو د يو ځائے خوشتولو او پخے او نيم پخته کهجورو لره يو ځائے خوشتولو نه

عَنْ أَبِي سَعِيدٍؓ قَالَ نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى

ابوسعيدؓ وئيلی دی چه منع کړے يو مونږ رسول اللهﷺ د انګورو او

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَخْلِطَ بَيْنَ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ وَأَنْ نَخْلِطَ الْبُسْرَ وَالتَّمْرَ

د کهجورو د يوځائے څوشتولو نه او دغسے د نيم پخته او د پخو کهجورو د يوځائے څوشتولو نه

عَنْ أَبِي مَسْلَمَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د ابو سلمة نه په دغه اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَرِبَ النَّبِيذَ مِنْكُمْ فَلْيَشْرَبْهُ زَبِيبًا فَرْدًا أَوْ تَمْرًا فَرْدًا أَوْ بُسْرًا فَرْدًا

د ابوسعيد خدري نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى خوك چه ستاسو نه نبيذ (شربت د کهجورو يا د انګورو) څکی نو صرف د انګورو دِ څښنى يا صرف د کهجورو يا صرف د کچه کهجورو دِ څښنى.

عَنْ إِسْمٰعِيلَ بْنِ مُسْلِمٍ الْعَبْدِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَخْلِطَ بُسْرًا بِتَمْرٍ أَوْ زَبِيبًا بِتَمْرٍ أَوْ زَبِيبًا بِبُسْرٍ وَقَالَ مَنْ شَرِبَهُ مِنْكُمْ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ وَكِيعٍ

د اسماعيل بن مسلم عبدى نه په دغه اسناد سره روايت دے چه منع کړے يو مونږ رسول الله ﷺ دے نه چه يوځائے کړو مونږ نيم پخته او پخے کهجورے يا انګور لره د نيم پخته کهجورو سره او حضرت ﷺ اوفرمائيل چه څښنکی په تاسو کښی نو مخکښی د وکيع د حديث پشان روايت کړو.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تَنْتَبِذُوا الزَّهْوَ وَالرُّطَبَ جَمِيعًا وَلَا تَنْتَبِذُوا الزَّبِيبَ وَالتَّمْرَ جَمِيعًا وَانْتَبِذُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى حِدَتِهِ

د ابوقتادة نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل مهٔ خوشتوئ کچه کهجورو لره د پخو کهجورو سره يو ځائے او مهٔ خوشتوئ انګورو او کهجورو لره يو ځائے بلکه جدا جدا خوشتوئ هر يو لره.

عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د يحيىٰ بن ابى کثير نه په دغه اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَنْتَبِذُوا الزَّهْوَ وَالرُّطَبَ جَمِيعًا وَلَا تَنْتَبِذُوا الرُّطَبَ وَالزَّبِيبَ جَمِيعًا وَلٰكِنِ انْتَبِذُوا كُلَّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَتِهِ وَزَعَمَ يَحْيَى أَنَّهُ لَقِيَ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي قَتَادَةَ فَحَدَّثَهُ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابوقتادة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه مهٔ خوشتوئ لوندے او اوچے کهجورے د يو بل سره. او نهٔ پخے کهجورے او انګورو لره د يو بل سره. بلکه هر يو لره خانله خانله خوشتوئ. او يحيىٰ وئيلى دى چه هغهٔ د عبد الله بن ابى قتادة سره ئے ملاقات اوکړو نو هغهٔ د خپل پلار نه او هغوى د نبى ﷺ نه حديث بيان کړو.

عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ الرُّطَبَ وَالزَّهْوَ وَالتَّمْرَ وَالزَّبِيبَ

د يحيىٰ بن کثير نه په دغه اسناد سره روايت دے مګر په دے کښې دغسے دي رطب او زَهو او تمر او زبيب.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ خَلِيطِ التَّمْرِ وَالْبُسْرِ وَعَنْ خَلِيطِ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ وَعَنْ خَلِيطِ الزَّهْوِ وَالرُّطَبِ وَقَالَ انْتَبِذُوا كُلَّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَتِهِ وحَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ هٰذَا الْحَدِيثِ

د ابوقتادهؓ نه روايت دے چه نبی ﷺ منع فرمائيلے ده د پخے او د نيم پخته کهجورو د يو ځائے خوشتولو او د انګورو او د کهجورو يو ځائے او لوندے او اوچے د کهجورے د يو ځائے خوشتولو نه. او اوئے فرمائيل چه هر يو لره ځانله ځانله خوشتوئ. راوی وئيلی دی او ما ته ئے حديث بيان کړو ابوسلمه بن عبد الرّحمٰن د ابن ابی قتادهؓ نه د نبی ﷺ نه د دے حديث پشان روايت بيان کړے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ وَالْبُسْرِ وَالتَّمْرِ وَقَالَ يُنْبَذُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى حِدَتِهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه منع فرمائيلے ده رسول الله ﷺ د انګورو او کهجورو او نيم پخته او پخو کهجورو د يو ځائے خوشتولو نه او فرمائيلی دی. هر يو ځانله ځانله خوشتوئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د پورتنی حديث پشان اوفرمائيئ.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُخْلَطَ التَّمْرُ وَالزَّبِيبُ جَمِيعًا وَأَنْ يُخْلَطَ الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ جَمِيعًا وَكَتَبَ إِلَى أَهْلِ جُرَشَ يَنْهَاهُمْ عَنْ خَلِيطِ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ و حَدَّثَنِيهِ وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ أَخْبَرَنَا خَالِدٌ يَعْنِي الطَّحَّانَ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فِي التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ وَلَمْ يَذْكُرِ الْبُسْرَ وَالتَّمْرَ

د ابن عباسؓ نه روايت دے چه منع فرمائيلے ده نبی ﷺ کهجورے او انګور د يو ځائے خوشتولو نه او حضرت ﷺ جرش والاؤ ته (جرش يو ښار دے په يمن کښې) اوليکل. منع به ئے فرمائيل هغوی لره د انګورو او د کهجورو د يو ځائے کولو نه. راوی وئيلی دی چه حديث بيان کړے دے ما ته وهب بن بقيه هغوی اووے چه خبر راکړے دے مونږ ته خالد د شيبانی نه په دے اسناد سره د کهجورو او د انګورو په باره کښې او نيم پخته او د کهجورو ذکر نۀ دے کړے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ قَدْ نُهِيَ أَنْ يُنْبَذَ الْبُسْرُ وَالرُّطَبُ جَمِيعًا وَالتَّمْرُ

د ابن عمرؓ نه روايت دے وائی چه منع شوے ده د کچه او پخو کهجورو د يو ځائے کولو نه يا د کهجورو او انګورو د يو ځای

وَالزَّبِيبُ جَمِيعًا

خوشتولو نه

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ قَدْ نُهِيَ أَنْ يُنْبَذَ الْبُسْرُ وَالرُّطَبُ جَمِيعًا وَالتَّمْرُ وَالزَّبِيبُ جَمِيعًا

د ابن عمرؓ نه روایت دے هغوی اووے چه منع کړے شوے ده د نیم پخته کهجورو او د کهجورو او د انګورو لره د یوځائے خوشتولو نه

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الِانْتِبَاذِ فِي الْمُزَفَّتِ وَالدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيرِ وَبَيَانِ نَسْخِهِ

باب: په مرتبان او په کدو او په منګی کښې او د کهجورے په ډډ کښې د نبیذ جوړولو ممانعت او د هغے د منسوخ کیدو بیان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ أَنْ يُنْبَذَ فِيهِ

د حضرت انس بن مالكؓ نه روایت دے رسول الله منع فرمائیلے ده په کدو او مرتبان کښې د نبیذ د جوړولو نه[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ أَنْ يُنْتَبَذَ فِيهِ قَالَ وَأَخْبَرَهُ أَبُو سَلَمَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تَنْتَبِذُوا فِي الدُّبَّاءِ وَلَا فِي الْمُزَفَّتِ ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ وَاجْتَنِبُوا الْحَنَاتِمَ

د حضرت انس بن مالكؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده په کدو او مرتبان کښې د نبیذ جوړولو نه. ابو سلمه سفیان ته بیان کړے دے هغوی اوریدلی دی د ابوهریرهؓ نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مه جوړوئ نبیذ په کدو او مرتبان کښې. بیا به حضرت ابوهریرهؓ ونیل ځان اوساتئ د منګو نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى عَنِ الْمُزَفَّتِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيرِ قَالَ قِيلَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ مَا الْحَنْتَمُ قَالَ الْجِرَارُ الْخُضْرُ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ مرتبان او منګی او د لرګی د لوښی نه (چه هغے نقیر وائی. هغه د کهجورے ډډ او تورولو جوړوی ئے) چا د ابوهریرهؓ نه تپوس اوکړو چه حنتم څه دے هغوی اووے شین منګے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه حضرت ﷺ د عبد القیس

---

[1] ددے حدیث بیان په کتاب الایمان کښې په تفصیل سره تیر شوے دے. او خلاصه ئے داده چه هر کله شراب حرام شو نو ډیر موده پورے چه به په کومو لوښو کښې شراب جوړیدل نو حضرت ﷺ په هغه لوښو کښې نبیذ جوړول منع کړل په دے خیال سره چه چرته په دے کښې که نشه راشي او خلق ترے خبر نه وی. بیا دغه ممانعت ختم شو.

وَسَلَّمَ قَالَ لِوَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ أَنْهَاكُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُقَيَّرِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمَزَادَةُ الْمَجْبُوبَةَ وَلَكِنِ اشْرَبْ فِي سِقَائِكَ وَأَوْكِهِ

تولګی ته اوفرمائيل. زۀ تاسو لره منع کوم د کدو نه او د منګی او د نقير او د مقيّر (غوړ) لوښی نه او د حنتم سر کټ شوی مشک نه ليکن څښئ د خپل بتکی نه او کاك اولګوئ په هغے (دد ے د پاره چه چينجے وغيره ورته لاړ نۀ شی)[1].

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنْتَبَذَ فِي الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ هٰذَا حَدِيثُ جَرِيرٍ وَفِي حَدِيثِ عَبْثَرٍ وَشُعْبَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ

د حضرت علیؓ نه روايت د ے چه منع کړ ے ده رسول الله ﷺ په کدو او مرتبان کښ د نبيذ جوړولو نه

عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قُلْتُ لِلْأَسْوَدِ هَلْ سَأَلْتَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَمَّا يُكْرَهُ أَنْ يُنْتَبَذَ فِيهِ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَخْبِرِينِي عَمَّا نَهَى عَنْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنْتَبَذَ فِيهِ قَالَتْ نَهَانَا أَهْلَ الْبَيْتِ أَنْ نَنْتَبِذَ فِي الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ قَالَ قُلْتُ لَهُ أَمَا ذَكَرَتِ الْحَنْتَمَ وَالْجَرَّ قَالَ إِنَّمَا أُحَدِّثُكَ بِمَا سَمِعْتُ أَوُحَدِّثُكَ مَا لَمْ أَسْمَعْ

د ابراهيم نه روايت د ے چه ما اسود ته اوو ے. تا د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه تپوس کړ ے د ے چه په کومو لوښو کښ نبيذ جوړول مکروه دی هغوی اوو ے آو. ما اوو ے ا ے د مؤمنانو مور ما ته اوښايې چه په کومو لوښو کښ رسول الله ﷺ نبيذ جوړول منع کړی دی. هغوی اوو ے موږ اهل بيتو لره منع کړی دی حضرت ﷺ د نبيذ جوړولو نه په کدو کښ او مرتبان کښ. ما هغوی ته اوو ے تاسو د حنتم او منګوټی ذکر اونۀ کړو؟ هغوی اوو ے زۀ خو هغه بيانوم څۀ چه ما اوريدلی دی. څکه زۀ هغه بيان کړم کوم چه ما اوريدلی نۀ وی.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روايت د ے چه منع کړ ے ده رسول الله ﷺ د کدو او مرتبان لوښو نه

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

حضرت عائشهؓ د نبی ﷺ نه د پورتنی حديث پشان روايت کړ ے د ے.

عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ حَزْنٍ الْقُشَيْرِيِّ قَالَ لَقِيتُ عَائِشَةَ فَسَأَلْتُهَا عَنِ النَّبِيذِ فَحَدَّثَتْنِي أَنَّ وَفْدَ

د ثمامه بن حزن قشيریؒ نه روايت د ے چه زۀ د حضرت عائشےؓ سره ميلاؤ شوم او د هغوی نه مے تپوس اوکړو د نبيذ په باره کښ. هغوی

[1] نوویؒ وئيلی دی دا وهم د ے د راوی. او صحيح داده چه منع ئے فرمائيلے ده د حنتم او سرکټی مشك نه چه هغه په مثل د منګی وی.

عَبْدِ الْقَيْسِ قَدِمُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلُوا النَّبِيَّ ﷺ عَنِ النَّبِيذِ فَنَهَاهُمْ أَنْ يَنْتَبِذُوا فِي الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ وَالْحَنْتَمِ

اووے د عبد القيس خلق د رسول الله ﷺ خواله راغلل او هغوی د رسول الله ﷺ نه د نبيذ په باره کښې تپوس اوکړو. حضرت ﷺ منع کړل هغوی لره د کدو او د کهجورے دډ او د مرتبان او د منګی نه

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ

د ام المؤمنين حضرت عائشے نه روايت دے. فرمائی منع کړے ده رسول الله ﷺ د کدو او منګی او کهجورے دډ او د مرتبان نه

عَنْ إِسْحٰقَ بْنِ سُوَيْدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ إِلَّا أَنَّهُ جَعَلَ مَكَانَ الْمُزَفَّتِ الْمُقَيَّرَ

د اسحاق بن سويد نه په دغه اسناد سره روايت دے. مګر په دے کښې د مرتبان په بدله غوړ لوښے ذکر شوے دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ أَنْهَاكُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُقَيَّرِ وَفِي حَدِيثِ حَمَّادٍ جَعَلَ مَكَانَ الْمُقَيَّرِ الْمُزَفَّتِ

د ابن عباس نه روايت دے چه د عبد القيس خلق د رسول الله ﷺ خواله راغلل نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل زهٔ تاسو لره منع کوم د کدو او منګی او د کهجورے د اونے دډ او د غوړ لوښی نه او د حماد په حديث کښې دی د غوړ لوښی په ځائے مرتبان دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ

د ابن عباس نه روايت دے منع فرمائيلے ده رسول الله ﷺ د کدو او د منګی او کهجورے د دډ نه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ وَأَنْ يُخْلَطَ الْبَلَحُ بِالزَّهْوِ

د ابن عباس نه روايت دے منع فرمائيلے ده رسول الله ﷺ د کدو او منګی او د مرتبان او د کهجورے توږلی شوی دډ نه. د کچه او نيم پخته کهجورو د يوځائے خوشتولو نه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ

د ابن عباس نه روايت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د کدو او د کهجورے د دډ نه او د مرتبان نه

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنِ الْجَرِّ أَنْ يُنْبَذَ فِيهِ

د ابوسعيد نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده په منګوټی کښې د نبيذ جوړولو نه

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ

د ابوسعيد خدری نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده د کدو او منګی او کهجورے دډ او د مرتبان

وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ

لوښو نه.

عَنْ قَتَادَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُنْتَبَذَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ

د قتادة نه روايت دے په دغه اسناد سره چه نبي ﷺ منع فرمائيلے ده د نبيذ جوړولو نه پس (مخکښې) د پورتنى حديث پشان بيان کړو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ فِي الْحَنْتَمَةِ وَالدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ

د ابوسعيد نه روايت دے وائى چه منع کړے ده رسول الله ﷺ په شين لوښى او کدو او کهجورے ددے د څښلو نه

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى ابْنِ عُمَرَ وَابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُمَا شَهِدَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ

د سعيد بن جبير نه روايت دے وائى چه زۀ گواهي ورکوم په ابن عمر او ابن عباس باندے. هغوى گواهي ورکړے ده چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده د کدو او منگى او د کهجورے د ډډ نه

حَدَّثَنَا شَيْبَانُ بْنُ فَرُّوخَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ يَعْنِي ابْنَ حَازِمٍ حَدَّثَنَا يَعْلَى بْنُ حَكِيمٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ عَنْ نَبِيذِ الْجَرِّ فَقَالَ حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ نَبِيذَ الْجَرِّ فَأَتَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ أَلاَ تَسْمَعُ مَا يَقُولُ ابْنُ عُمَرَ قَالَ وَمَا يَقُولُ قُلْتُ قَالَ حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ نَبِيذَ الْجَرِّ فَقَالَ صَدَقَ ابْنُ عُمَرَ حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ نَبِيذَ الْجَرِّ فَقُلْتُ وَأَيُّ شَيْءٍ نَبِيذُ الْجَرِّ فَقَالَ كُلُّ شَيْءٍ يُصْنَعُ مِنَ الْمَدَرِ

د سعيد بن جبير نه روايت دے وائى چه ما د عبد الله بن عمر نه د منگوټى د نبيذ په باره کښې تپوس اوکړو هغوى اووے حرام کړى دى رسول الله ﷺ د منگوټى نبيذ لره. بيا زۀ د ابن عباس خواله راغلم او هغوى ته مے اووے. تا نۀ دى اوريدلى چه ابن عمر څۀ وائى. هغوى اووے څۀ وائى، ما اووے هغوى وائى چه رسول الله ﷺ د منگوټى نبيذ حرام کړى دى هغوى اووے ابن عمر رښتيا وائى رسول الله ﷺ حرام کړى دى د منگوټى نبيذ لره. ما اووے څۀ دى نبيذ الجر. هغوى اووے هر يو شے چه هغه په د خاورے نه جوړ شى هغه د منگوټى په مثل دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ فِي بَعْضِ مَغَازِيهِ قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَأَقْبَلْتُ نَحْوَهُ فَانْصَرَفَ قَبْلَ أَنْ أَبْلُغَهُ فَسَأَلْتُ مَاذَا قَالَ قَالُوا نَهَى أَنْ يُنْتَبَذَ فِي الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ

د عبدالله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ په و جهاد کښې خلقو ته خطبه اورولمه زۀ هلته روان شوم (د خطبے اوريدو دپاره) حضرت ﷺ خما د رسيدو نه مخکښې فارغ شو ما د خلقو نه تپوس اوکړو چه حضرت ﷺ څۀ اوفرمائيل. هغوى اووے منع اوفرمائيله حضرت ﷺ د نبيذ د جوړولو نه په کدو او مرتبان کښې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ وَلَمْ

ابن عمر (د پورتنى) د مالك (راوى) د حديث پشان روايت کړے

يَذْكُرُوا فِي بَعْضِ مَغَازِيهِ إِلَّا مَالِكٌ وَأُسَامَةُ

دے. او د مالك او اسامه د راويانو نه علاوه بل يو راوى په يو جهاد كښې الفاظ ذكر كړے نه دى.

عَنْ ثَابِتٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَبِيذِ الْجَرِّ قَالَ فَقَالَ قَدْ زَعَمُوا ذَاكَ قُلْتُ أَنَهَى عَنْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَدْ زَعَمُوا ذَاكَ

د ثابت نه روايت دے وائى چه ما عبد الله بن عمرؓ ته اووے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده د منګوټى د نبيذ نه هغوى اووے خلق داسے وائى. ما اووے آيا حضرت ﷺ منع فرمائيلے ده هغوى اووے خلق داسے وائى.

عَنْ طَاوُسٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عُمَرَ أَنَهَى نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَبِيذِ الْجَرِّ قَالَ نَعَمْ ثُمَّ قَالَ طَاوُسٌ وَاللهِ إِنِّي سَمِعْتُهُ مِنْهُ

د طاؤسؒ نه روايت دے يو سرى ابن عمرؓ ته اووے آيا رسول الله ﷺ منع كړے ده د منګوټى د نبيذ نه؟ هغوى اووے آو. طاؤسؒ اووے قسم په خدائے چه ما داسے اوريدلى دى د ابن عمرؓ نه

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا جَاءَهُ فَقَالَ أَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنْبَذَ فِي الْجَرِّ وَالدُّبَّاءِ قَالَ نَعَمْ

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه يو سړے د هغوى خواله راغے او اوئے فرمائيل آيا رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده په منګوټى او كدو كښې د نبيذ جوړولو نه هغوى اووے آو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنِ الْجَرِّ وَالدُّبَّاءِ

د ابن عمرؓ نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده د منګوټى او كدو نه

عَنْ طَاوُسٍ يَقُولُ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ أَنَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَبِيذِ الْجَرِّ وَالدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ قَالَ نَعَمْ

د طاؤسؒ نه روايت دے وائى چه زۀ د ابن عمرؓ سره ناست وم چه په دے كښې يو سړے راغے او اوئے وئيل. آيا رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده د نبيذ نه د منګوټى نه د كدو نه او د مرتبان نه هغوى اووے آو. منع ئے كړے ده.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحَنْتَمِ وَالدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ قَالَ سَمِعْتُهُ غَيْرَ مَرَّةٍ

د حضرت ابن عمرؓ نه روايت دے وائى چه منع فرمائيلے ده رسول الله ﷺ د شين لوښى نه او د كدو نه او د مرتبان نه محارب (راوى) وائى ما دا د ابن عمرؓ نه څو ځله اوريدلى دى.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ قَالَ وَأُرَاهُ قَالَ وَالنَّقِيرِ

ابن عمرؓ د نبى ﷺ نه د پورتنى حديث پشان روايت كړے دے. راوى وائى څما خيال دے د كهجورے ددنے اووے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الْجَرِّ وَالدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ وَقَالَ انْتَبِذُوا فِي الْأَسْقِيَةِ

د ابن عمرؓ نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ د منګوټی او کدو او مرتبان لوښی نه اوفرمائیلے ئے دی نبیذ جوړوئ په مشکیزو کښې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يُحَدِّثُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الْحَنْتَمَةِ فَقُلْتُ مَا الْحَنْتَمَةُ قَالَ الْجَرَّةُ

د ابن عمرؓ نه روایت دے وائي چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د حنتمے نه ما اووے حنتمه څه دے. هغوی اووے وړوکے منګوټے دے.

عَنْ زَاذَانَ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ حَدِّثْنِي بِمَا نَهَى عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْأَشْرِبَةِ بِلُغَتِكَ وَفَسِّرْهُ لِي بِلُغَتِنَا فَإِنَّ لَكُمْ لُغَةً سِوَى لُغَتِنَا فَقَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحَنْتَمِ وَهِيَ الْجَرَّةُ وَعَنِ الدُّبَّاءِ وَهِيَ الْقَرْعَةُ وَعَنِ الْمُزَفَّتِ وَهُوَ الْمُقَيَّرُ وَعَنِ النَّقِيرِ وَهِيَ النَّخْلَةُ تُنْسَحُ نَسْحًا وَتُنْقَرُ نَقْرًا وَأَمَرَ أَنْ يُنْتَبَذَ فِي الْأَسْقِيَةِ

د زاذان نه روایت دے وائی چه ما حضرت ابن عمرؓ ته اووے چه حدیث بیان کړه ما ته د هغه شرابو په باره کښې چه د هغې نه جناب رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده پخپله ژبه کښې. او ترجمه اوکړه د هغے زمونږ په ژبه کښې ولے چه ستاسو ژبه زمونږ د ژبے نه جدا ده. هغوی اووے منع کړے ده حضرت ﷺ د حنتم نه او هغه منګوټے دے. او د دباء نه او هغه توبنه ده او د مزفت نه او هغه روغنی دے او د نقیر نه هغه د کهجورے لرګے دے چه د پټ توګلے ، کرولے شی او حکم کړے دے حضرت ﷺ د نبیذ جوړولو په مشکونو کښې.

عَنْ شُعْبَةَ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ

د شعبه په دغه اسناد سره روایت دے.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ يَقُولُ سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ عِنْدَ هَذَا الْمِنْبَرِ وَأَشَارَ إِلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلُوهُ عَنِ الْأَشْرِبَةِ فَنَهَاهُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْحَنْتَمِ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَبَا مُحَمَّدٍ وَالْمُزَفَّتِ وَظَنَنَّا أَنَّهُ نَسِيَهُ فَقَالَ لَمْ أَسْمَعْهُ يَوْمَئِذٍ مِنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ وَقَدْ كَانَ يَكْرَهُ

د سعید بن المسیب نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د عبد الله بن عمرؓ نه د دے منبر په خوا کښې او اشاره ئے اوکړه د رسول الله ﷺ د منبر په طرف چه د عبد القیس خلق راغلل د رسول الله خواله او د حضرت ﷺ نه ئے د شرابو په باره کښې تپوس اوکړو. نو حضرت ﷺ منع کړل خو هغوی لره د کدو او کهجورے د ډډ او د منګی نه ما اووے اے ابو محمد او مرتبان نه زمونږ دا خیال وو چه دده به هیر شوی وی. هغوی اووے په دغه ورځ ما د مرتبان لفظ د عبد الله بن عمرؓ نه نه دے اوریدلے لیکن هغوی به مرتبان لره هم مکروه ګڼړلو.

عَنْ جَابِرٍ وَابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ النَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ وَالدُّبَّاءِ	د جابر او ابن عمر نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه منع ئے فرمائیلے ده د کهجورے د ډډ او د مرتبان او د کدو نه
عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنِ الْجَرِّ وَالدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ وَسَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَرِّ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَمْ يَجِدْ شَيْئًا يُنْتَبَذُ لَهُ فِيهِ نُبِذَ لَهُ فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ	د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه منع ئے فرمائیله. د منگوټی نه او د کدو نه او د مرتبان نه. ابوالزبیر وائی ما د جابر نه اوریدلی دی چه منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ د منگوټی نه او د مرتبان نه او کهجورے د ډډ نه. او حضرت ﷺ ته چه به هر کله څه لوښے میلاؤ نۀ شو د نبیذ جوړولو دپاره نو نبیذ به جوړولے شو د حضرت ﷺ دپاره د گټے په بغرئ کښ.
عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُنْبَذُ لَهُ فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ	د جابر نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ دپاره به نبیذ جوړولے شو د گټے په بغرئ کښ.
عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ يُنْتَبَذُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَاءٍ فَإِذَا لَمْ يَجِدُوا سِقَاءً نُبِذَ لَهُ فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ وَأَنَا أَسْمَعُ لِأَبِي الزُّبَيْرِ مِنْ بِرَامٍ قَالَ مِنْ بِرَامٍ	د جابر نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ دپاره به نبیذ جوړولے شو په یو مشك کښ هر کله چه به مشك میلاؤ نه شو نو د گټے په بغرئ کښ به ئے جوړول. بعضو وئیلی دی او ما د ابوالزبیر نه اوریدلی دی هغه وئیل هغه بغرئ د ابرام وه یعنی د گټے
عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيذِ إِلَّا فِي سِقَاءٍ فَاشْرَبُوا فِي الْأَسْقِيَةِ كُلِّهَا وَلَا تَشْرَبُوا مُسْكِرًا	د بریده نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ما تاسو لره منع کړی وئ د نبیذ جوړولو نه سوا د مشك نه او په لوښو کښ او س په ټولو لوښو کښ جوړوئ لیکن مۀ څښئ هغه شراب چه په هغے کښ نشه وی.
عَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ نَهَيْتُكُمْ عَنِ الظُّرُوفِ وَإِنَّ الظُّرُوفَ أَوْ ظَرْفًا لَا يُحِلُّ شَيْئًا وَلَا يُحَرِّمُهُ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ	د حضرت بریده نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ما تاسو منع کړی وئ د لوښو نه لیکن په لوښو سره څۀ څیز حلال یا حرام شوے نۀ دے. او هر یو نشه کونکے څیز حرام دے.
عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ	د بریده نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل ما تاسو لره منع

وسلم كُنتُ نهيتُكم عن الأشربة في ظروف الأدم فاشربوا في كل وعاء غير أن لا تشربوا مسكرًا

کړي وي: د څرمې په لوښو کښې د څښلو نه اوس څښئ: په هر يو لوښي کښې خو مه څښئ: نشه راوستونکې څيزونه

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ لَمَّا نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّبِيذِ فِي الْأَوْعِيَةِ قَالُوا لَيْسَ كُلُّ النَّاسِ يَجِدُ فَأَرْخَصَ لَهُمْ فِي الْجَرِّ غَيْرِ الْمُزَفَّتِ

د عبد الله بن عمرو نه روايت دے چه هر کله منع کړو رسول الله ﷺ په لوښو کښې نبيذ جوړولو لره. نو خلقو اووے. د هر سړي سره د څرمنې مشک نه وي. بيا حضرت ﷺ د منګي اجازت ورکړو خو چه مرتبان نه وي.

بَابُ بَيَانِ أَنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَأَنَّ كُلَّ خَمْرٍ حَرَامٌ

باب: هر نشه کونکې شراب خمر دی او هر خمر حرام دی

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِتْعِ فَقَالَ كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ

د ام المؤمنين حضرت عائشې صديقې نه روايت دے چه رسول الله ﷺ نه خلقو د بتع په باره کښې تپوس اوکړو (بتع د شهد شرابو ته وائي) حضرت ﷺ اوفرمائيل په کومو څيزونو کښې چه نشه وي هغه حرام دي.

عَنْ عَائِشَةَ تَقُولُ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِتْعِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ

حضرت عائشې په فرمائيل د رسول الله ﷺ د شهدو د شرابو په باره کښې تپوس اوکړے شو. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل. هر نشه کونکې شراب حرام دي.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ سُفْيَانَ وَصَالِحٍ سُئِلَ عَنِ الْبِتْعِ وَهُوَ فِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ وَفِي حَدِيثِ صَالِحٍ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُلُّ شَرَابٍ مُسْكِرٍ حَرَامٌ

د زهري نه په دغه اسناد سره روايت دے. او نشته د صالح او د سفيان په حديث کښې چه: د شهدو د شرابو په باره کښې: او دا د معمر په حديث کښې دی. او د صالح په حديث کښې دي چه حضرت عائشې اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه حضرت ﷺ اوفرمائيل. هر نشه کونکې شراب حرام دي.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ إِلَى الْيَمَنِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ شَرَابًا يُصْنَعُ بِأَرْضِنَا يُقَالُ لَهُ الْمِزْرُ مِنَ الشَّعِيرِ

د ابوموسىٰ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ زه او معاذ د يمن په طرف ليږلو ما اووے. يا رسول الله ﷺ زمونږ په ملک کښې يو قسم شراب څښلے شي چه ورته مزر وائي او هغه د وربشو نه جوړيږي (په انګريزئ کښې ورته بيئر وائي) او يو شراب د شهدو نه جوړيږي چه

وَشَرَابٌ يُقَالُ لَهُ الْبِتْعُ مِنَ الْعَسَلِ فَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ

ورته بتع ونيلے شي. حضرت ﷺ اوفرمائيل هر نشه کونکی شراب حرام دی.

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ وَمُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ لَهُمَا بَشِّرَا وَيَسِّرَا وَعَلِّمَا وَلَا تُنَفِّرَا وَأُرَاهُ قَالَ وَتَطَاوَعَا قَالَ فَلَمَّا وَلَّى رَجَعَ أَبُو مُوسَى فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لَهُمْ شَرَابًا مِنَ الْعَسَلِ يُطْبَخُ حَتَّى يَعْقِدَ وَالْمِزْرُ يُصْنَعُ مِنَ الشَّعِيرِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مَا أَسْكَرَ عَنِ الصَّلَاةِ فَهُوَ حَرَامٌ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هغوی لره اومعاذؓ لره د یمن په طرف لیږلو.او هغوی دواړو ته ئے اوفرمائیل خلق خوشحاله ساتئ او آسانی پرے کوئ او ددین خبرے ورته بنایئ او نفرت مهٔ غورځوئ او دواړه په اتفاق سره اوسیږئ هر کله چه د هغوی شا شوه روان شو نو حضرت ابوموسیٰؓ راواګرځیدو او عرض ئے اوکړو یا رسول اللهؐ د یمن والاؤ سره یو قسم شراب وی چه هغه د شهدُ نه پخولے شی تردے پورے چه جم شی. او یو قسم د مزر شراب وی چه هغه د وربشو نه جوړولے شی. حضرت ﷺ اوفرمائیل کوم شراب چه د مانځهٔ نه بنده غافله کوی هغه حرام دی.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ ادْعُوَا النَّاسَ وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا وَيَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَفْتِنَا فِي شَرَابَيْنِ كُنَّا نَصْنَعُهُمَا بِالْيَمَنِ الْبِتْعُ وَهُوَ مِنَ الْعَسَلِ يُنْبَذُ حَتَّى يَشْتَدَّ وَالْمِزْرُ وَهُوَ مِنَ الذُّرَةِ وَالشَّعِيرِ يُنْبَذُ حَتَّى يَشْتَدَّ قَالَ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أُعْطِيَ جَوَامِعَ الْكَلِمِ بِخَوَاتِمِهِ فَقَالَ أَنْهَى عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ أَسْكَرَ عَنِ الصَّلَاةِ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دےچه رسول الله ﷺ ما لره او معاذؓ د یمن په طرف لیږلو نو اوئے فرمائیل راغواړئ خلقو لره (د اسلام په طرف) او خوشحاله ئے ساتئ او نفرت پکښ مهٔ اچوئ او اسانی ورسره کوئ او په تکلیف کښ ئے مهٔ غورځوئ ما عرض اوکړو یا رسول اللهؐ موږ له فتویٰ راکړه د دوو شرابو په باره کښ چه هغے لره موږ جوړ وو په یمن کښ یو خو بتع دے چه د شهدو نه جوړیږی هر کله چه هغه اووېشولے شی. دویم قسم مزر چه د جوارو یا د وربشو وی دا خوشتوی تر هغے پورے چه تیز شی. او رسول الله ﷺ هغه خبری کړی دی چه په هغے کښ الفاظ لږ او معنے زیاتے وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه زهٔ منع کوم هر نشه راوستونکو شرابو لره چه هغه بنده د مانځهٔ نه غافله کوی.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا قَدِمَ مِنْ جَيْشَانَ وَجَيْشَانُ مِنَ الْيَمَنِ فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ

د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه یو سړے د جیشان نه راغے. او جیشان یو ښهر دے په یمن کښ. هغه تپوس اوکړو د هغه شرابو

شَرَابٍ يَشْرَبُونَهُ بِأَرْضِهِمْ مِنَ الذُّرَةِ يُقَالُ لَهُ الْمِزْرُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَمُسْكِرٌ هُوَ قَالَ نَعَمْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ إِنَّ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَهْدًا لِمَنْ يَشْرَبُ الْمُسْكِرَ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ قَالَ عَرَقُ أَهْلِ النَّارِ أَوْ عُصَارَةُ أَهْلِ النَّارِ

په باره كښې چه د هغوی په ملك كښې څښلے شو. او هغه به د جوارو نه جوړيدو او هغے ته به ئے مزر وئيل. رسول الله ﷺ اوفرمائيل په هغے كښې نشه نشته دے. هغهٔ اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائيل څهٔ چه نشه كوی هغه حرام دی. او الله تعالی وعده كړے ده څوك چه نشه كوی يعنی څښی په هغهٔ به طينة الخبال څكولے شی (په آخرت كښې) خلقو عرض اوكړو چه طينة الخبال څهٔ شے دے يا رسول الله ﷺ حضرت اوفرمائيل دا د جهنم يانو خوله ده.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَمَاتَ وَهُوَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ

د ابن عمر رضی الله عنه نه روايت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه هر يو نشه كونكے څكاك خمر دے او نشه كونكی شراب حرام دی. او كوم بنده چه په دنيا كښې شراب څښی او بيا د څښلو څښلو په دوران كښې مړ شی او توبه كړے ئے نهٔ وی. نو هغهٔ ته به په آخرت كښې شراب نهٔ شی وركولے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ

د ابن عمر رضی الله عنه نه روايت دے چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائيلی دی هر يو نشه كونكے څيز خمر دے او نشه كونكی شراب حرام دی.

عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

موسی بن عقبه رحمه الله نه په دغه اسناد سره د پورتنی حديث پشان روايت دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی هر نشه كونكے څيز خمر دے او هر خمر حرام دے[1]

بَابُ عُقُوبَةِ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ إِذَا لَمْ يَتُبْ مِنْهَا بِمَنْعِهِ إِيَّاهَا فِي

باب: كوم سړے چه په دنيا كښې شراب څښكی او توبه اونهٔ باسی د هغهٔ سزا په آخرت كښې هغه به د دے

---

[1]: دا د اول شكل رومبے ضرب دے. او د هغے نتيجه دا ده چه هر يو نشه راوستونكے څيز حرام دے. په دی كښې څهٔ خصوصيت نشته دے چه هغه د دانګورو وی يا د وريشو يا د جوارو خو چه نشه كوی هغه حرام دی. اوس خنے خلق وائی چه د حديث نه د هغه مقدار حرمت وتلے دے چه په كوم سره نشه راځی او د لږ حرمت ترے نهٔ دے وتلے دد ے جواب دا دے چه په بل حديث كښې صفا موجود دی چه د كومو شرابو زيات مقدار نشه كوی د هغے لږ مقدار هم حرام دے نو اوس هيڅ شك او شبهه باقی پاتے نهٔ شوه.

الْآخِرَةِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا حُرِمَهَا فِي الْآخِرَةِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَلَمْ يَتُبْ مِنْهَا حُرِمَهَا فِي الْآخِرَةِ فَلَمْ يُسْقَهَا قِيلَ لِمَالِكٍ رَفَعَهُ قَالَ نَعَمْ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا أَنْ يَتُوبَ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللهِ

بَاب إِبَاحَةِ النَّبِيذِ الَّذِي لَمْ يَشْتَدَّ وَلَمْ يَصِرْ مُسْكِرًا

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْتَبَذُ لَهُ أَوَّلَ اللَّيْلِ فَيَشْرَبُهُ إِذَا أَصْبَحَ يَوْمَهُ ذَلِكَ وَاللَّيْلَةَ الَّتِي تَجِيءُ وَالْغَدَ وَاللَّيْلَةَ الْأُخْرَى وَالْغَدَ إِلَى الْعَصْرِ فَإِنْ بَقِيَ شَيْءٌ سَقَاهُ الْخَادِمَ أَوْ أَمَرَ بِهِ فَصُبَّ

نه محروم وی

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی څوك چه په دنیا کښ شراب څښی هغه به په آخرت کښ د شرابو نه محرومه وی.

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے وائی څوك چه په دنیا کښ شراب څښی او توبه ترے اونه باسی. نو هغه به په آخرت کښ د شرابو نه محرومه وی او هغه به نۀ شی څښلے. د امام مالكؒ نه چا تپوس اوکړو چه عبد الله دے حدیث لره مرفوع کړے دے هغوی اووے آو.

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی څوك چه په دنیا کښ شراب څښی هغه به په آخرت کښ نۀ څښی مګر هله چه (په دنیا کښ) توبه اوباسی.

ابن عمرؓ د نبیﷺ نه (د پورتنی) د عبید الله د حدیث پشان روایت کړے دے.

باب: په کوم نبیذ کښ چه تیزی نۀ وی راغلی او نۀ په هغے کښ نشه وی هغه حلال دے

د حضرت عبد الله بن عباسؓ نه روایت دے چه د رسول اللهﷺ دپاره چه به نبیذ په اول د شپه کښ خوشته کړل او حضرتﷺ به سحر اوڅښل او بیا به ئے بل سحر اوڅښل او بیائے په دریمه شپه او سحر اوڅښل د مازیګره پورے دا دے نه پس چه به کوم پاتے شو نو هغه به ئے خادم او څښل یا به ئے حکم اوکړو نو هغه به ئے توئ کړل[1].

[1] کچرے په هغے کښ به تیزی نۀ وه راغلے او د نشے څۀ نخښه به پکښ ښکاره شوے نۀ وه. نو خادم ته به ئے ورکولو ورنه توئ به ئے کړو. غرض دا چه حضرتﷺ به د دریمے ورځے پورے څښلو ځکه چه په دومره موده کښ به تیزی نۀ راتله او هغه به په شان د شربت وو.

عَنْ يَحْيَى الْبَهْرَانِيِّ قَالَ ذَكَرُوا النَّبِيذَ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْتَبَذُ لَهُ فِي سِقَاءٍ قَالَ شُعْبَةُ مِنْ لَيْلَةِ الِاثْنَيْنِ فَيَشْرَبُهُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالثُّلَاثَاءِ إِلَى الْعَصْرِ فَإِنْ فَضَلَ مِنْهُ شَيْءٌ سَقَاهُ الْخَادِمَ أَوْ صَبَّهُ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْقَعُ لَهُ الزَّبِيبُ فَيَشْرَبُهُ الْيَوْمَ وَالْغَدَ وَبَعْدَ الْغَدِ إِلَى مَسَاءِ الثَّالِثَةِ ثُمَّ يَأْمُرُ بِهِ فَيُسْقَى أَوْ يُهَرَاقُ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْبَذُ لَهُ الزَّبِيبُ فِي السِّقَاءِ فَيَشْرَبُهُ يَوْمَهُ وَالْغَدَ وَبَعْدَ الْغَدِ فَإِذَا كَانَ مَسَاءُ الثَّالِثَةِ شَرِبَهُ وَسَقَاهُ فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ أَهْرَاقَهُ

عَنْ يَحْيَى النَّخَعِيِّ قَالَ سَأَلَ قَوْمٌ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ بَيْعِ الْخَمْرِ وَشِرَائِهَا وَالتِّجَارَةِ فِيهَا فَقَالَ أَمُسْلِمُونَ أَنْتُمْ قَالُوا نَعَمْ قَالَ فَإِنَّهُ لَا يَصْلُحُ بَيْعُهَا وَلَا شِرَاؤُهَا وَلَا التِّجَارَةُ فِيهَا قَالَ فَسَأَلُوهُ عَنِ النَّبِيذِ فَقَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ ثُمَّ رَجَعَ وَقَدْ نَبَذَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فِي حَنَاتِمَ وَنَقِيرٍ وَدُبَّاءٍ فَأَمَرَ بِهِ فَأُهْرِيقَ ثُمَّ أَمَرَ بِسِقَاءٍ فَجُعِلَ فِيهِ زَبِيبٌ وَمَاءٌ فَجُعِلَ مِنَ اللَّيْلِ فَأَصْبَحَ فَشَرِبَ مِنْهُ

د یحیی بهرانی نه روایت دے چه خلقو د عبد الله بن عباس په مخکښې د نبیذ ذکر اوکړو. هغوی اووے د رسول الله ﷺ دپاره به نبیذ جوړولے شو په مشک کښې. شعبه وائی د ګُل په ورځ او د نهرے په ورځ د ماز یګره پورې دد ے نه پس چه به څهٔ باقی پاتے شو هغه به ئے په خادم اوڅښل یا به ئے توئ کړل.

د ابن عباس نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ دپاره به انګور نچوړ کړے شو حضرت ﷺ به د هغے نه په هغه اوڅښلو بیا په دویمه ورځ بیاپه دریمه ورځ به ئے د ماښامه پورے څښلو. بیا به حضرت ﷺ حکم اوکړو د هغے د څښلو (هر کله چه به نشه راوستونکے نهٔ وو) یا به ئے د غورځولو حکم اوکړي (هر کله چه به پکښې نشه راغلے وه).

د حضرت ابن عباس نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ دپاره به انګور نچوړلے شو په مشک کښې حضرت به په هغه ورځ اوڅښلو بیا په دویمه ورځ بیا په دریمه ورځ به ئے ماښام اوڅښلو او نورو ته به ئے هم ورکړو او څهٔ چه به بچ پاتے شو هغه به ئے توئ کړلو.

د یحیی نخعی نه روایت دے څهٔ خلقو د ابن عباس نه تپوس اوکړو د شرابو د بیعے او د تجارت په باره کښې. هغوی اووے تاسو مسلمانان یئ؟ هغوی اووے آو. ابن عباس اووے نو نهٔ دد ے بیعه صحیح ده نهٔ اخستل نهٔ تجارت د هغے. بیا خلقو د نبیذ په باره کښې دهغوی نه تپوس اوکړو. هغوی اووے رسول الله ﷺ په سفر اووتو او بیا واپس شو. نو خلقو د هغوی د صحابؤ نه نبیذ جوړ کړی وو په شنو منګو کښې او د کهجورو د اونې په ډډو کښې او په کدو کښې. حضرت ﷺ حکم اوکړي او په یو مشک کښې انګور او اوبهٔ واچولے شو او بیا توله شپه دغه شان پراتهٔ وو سحر حضرت ﷺ د هغے نه

يَوْمَهُ ذٰلِكَ وَلَيْلَتَهُ الْمُسْتَقْبِلَةَ وَمِنَ الْغَدِ حَتّٰى أَمْسٰى فَشَرِبَ وَسَقٰى فَلَمَّا أَصْبَحَ أَمَرَ بِمَا بَقِيَ مِنْهُ فَأُهْرِيقَ

اوڅښلو او بیا دویمې شپې لره او د دویمې ورځې د سحر نه د ماښامه پورې ئې اوڅکل او اوئې څکول بیا په دریمه ورځ چه کوم پاتې شو حضرت ﷺ حکم اوکړو هغه توئ کړے شو.

عَنْ ثُمَامَةَ يَعْنِي ابْنَ حَزْنٍ الْقُشَيْرِيِّ قَالَ لَقِيتُ عَائِشَةَ فَسَأَلْتُهَا عَنِ النَّبِيذِ فَدَعَتْ عَائِشَةُ جَارِيَةً حَبَشِيَّةً فَقَالَتْ سَلْ هٰذِهِ فَإِنَّهَا كَانَتْ تَنْبِذُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتِ الْحَبَشِيَّةُ كُنْتُ أَنْبِذُ لَهُ فِي سِقَاءٍ مِنَ اللَّيْلِ وَأُوكِيهِ وَأُعَلِّقُهُ فَإِذَا أَصْبَحَ شَرِبَ مِنْهُ

د ثمامه بن حزن قشیری نه روایت دے چه زهٔ د حضرت عائشے سره میلاؤ شوم د هغوی نه مې د نبیذ په باره کښې تپوس اوکړو هغوی یوه حبش وینځه رااوغوښته او اوئې وئیل دد ے نه تپوس اوکړه. هغې به د رسول الله ﷺ دپاره نبیذ جوړول. هغې اووے ما به د حضرت ﷺ دپاره په مشك کښې د شپے نبیذ خوشتولو او بنۀ به مې اوزورلو او بیا به مې موګی ته زوړند کړو سحر به حضرت ﷺ د هغې نه څښلو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنَّا نَنْبِذُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَاءٍ يُوكٰى أَعْلَاهُ وَلَهُ عَزْلَاءُ نَنْبِذُهُ غُدْوَةً فَيَشْرَبُهُ عِشَاءً وَنَنْبِذُهُ عِشَاءً فَيَشْرَبُهُ غُدْوَةً

د ام المؤمنین حضرت عائشے نه روایت دے چه مونږ به د رسول الله ﷺ دپاره په یو مشك کښې نبیذ خوشتول او بنۀ به مو منبل. په هغې کښې سورے وو سحر به مو خوشته کړل او ماښام به حضرت ﷺ اوڅښل او ماښام به مو خوشته کړل نو سحر به حضرت څښکل.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ دَعَا أَبُو أُسَيْدٍ السَّاعِدِيُّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عُرْسِهِ فَكَانَتِ امْرَأَتُهُ يَوْمَئِذٍ خَادِمَهُمْ وَهِيَ الْعَرُوسُ قَالَ سَهْلٌ تَدْرُونَ مَا سَقَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْقَعَتْ لَهُ تَمَرَاتٍ مِنَ اللَّيْلِ فِي تَوْرٍ فَلَمَّا أَكَلَ سَقَتْهُ إِيَّاهُ

د سهل بن سعد نه روایت دے چه ابواُسید ساعدی په خپل وادهٔ کښې رسول الله ﷺ له دعوت ورکړو. او د هغوی ښځې په دغه ورځ کار کولو او هغه ناوے هم وه. سهل اووے تهٔ خبر ئې دے په رسول الله ﷺ د شپے څهٔ څښلی وو. دے یو څو کهجورے خوشتے کړے وے په منګی کښې. هر کله چه حضرت ﷺ غله اوخوړه نو د هغې شربت ئې په حضرت اوڅښلو [1]

عَنْ سَهْلٍ يَقُولُ أَتٰى أَبُو أُسَيْدٍ السَّاعِدِيُّ

د سهل نه روایت دے چه ابواسید ساعدی د رسول الله ﷺ په خدمت

---

[1] نووی وائی دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه کوربه د ښځے میلمنو تخصیص کولے شی په بنۀ خوراك سره یا شربت سره. په دے شرط چه نور ملګری ئې نهٔ خفه کیږي او صحابه کرام خو به د رسول الله ﷺ په زیارت قدر او خاطر کولو سره خوشحالیدل.

رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَقُلْ فَلَمَّا أَكَلَ سَقَتْهُ إِيَّاهُ

کښې راغلې لو رسول الله ﷺ له نې دعوت ورکړو ځنګه چه په پورتنی حدیث کښې دی. او په دې حدیث کښې دا نشته چه هرکله حضرت ﷺ خوراك اوکړو نو هغې په حضرت ﷺ باندې شرب اوڅښکلو.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ وَقَالَ فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ فَلَمَّا فَرَغَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الطَّعَامِ أَمَاثَتْهُ فَسَقَتْهُ تَخُصُّهُ بِذَلِكَ

د سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے ددے حدیث. او په دے کښې دی د کانړی په دوغل کښې. او هر کله چه حضرت ﷺ فارغ شو د خوراك نه نو هغه ښځې صرف په حضرت ﷺ باندے اوڅښلو.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ ذُكِرَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةٌ مِنَ الْعَرَبِ فَأَمَرَ أَبَا أُسَيْدٍ أَنْ يُرْسِلَ إِلَيْهَا فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا فَقَدِمَتْ فَنَزَلَتْ فِي أُجُمِ بَنِي سَاعِدَةَ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى جَاءَهَا فَدَخَلَ عَلَيْهَا فَإِذَا امْرَأَةٌ مُنَكِّسَةٌ رَأْسَهَا فَلَمَّا كَلَّمَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ أَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ قَالَ قَدْ أَعَذْتُكِ مِنِّي فَقَالُوا لَهَا أَتَدْرِينَ مَنْ هَذَا فَقَالَتْ لَا فَقَالُوا هَذَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَكِ لِيَخْطُبَكِ قَالَتْ أَنَا كُنْتُ أَشْقَى مِنْ ذَلِكَ قَالَ سَهْلٌ فَأَقْبَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ حَتَّى جَلَسَ فِي سَقِيفَةِ بَنِي سَاعِدَةَ هُوَ وَأَصْحَابُهُ ثُمَّ قَالَ اسْقِنَا لِسَهْلٍ قَالَ فَأَخْرَجْتُ لَهُمْ هَذَا الْقَدَحَ فَأَسْقَيْتُهُمْ فِيهِ قَالَ أَبُو حَازِمٍ فَأَخْرَجَ

د سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ په مخکښې د عربو د یوے ښځې ذکر اوشو. حضرت ﷺ ابوأسید ته حکم اوکړو د پیغام ورکولو. هغوی پیغام ورکړو او هغه راغله او د بنی ساعده په قلعه ګانو کښې کوزه شوه. رسول الله ﷺ راووتو او د هغې خوالهٔ ئې تشریف ویوړو. هر کله چه هلته اورسیدهٔ نو څهٔ ګوری چه یوه ښځه ئې سر ښکته کړے اولیده. حضرت ﷺ د هغې سره خبره اوکړه. هغې اووے زهٔ په الله سره پناه غوارم ستا نه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل تا خپل ځان بچ کړو خما نه (یعنی اوس زهٔ ستا سره څهٔ نهٔ کوم) خلقو هغې ته اووے تا اوپیژندهٔ چه دا څوك سړے دے. هغې اووے زهٔ ئې نهٔ پیژنم. خلقو اووے دا د الله تعالی رسول رضی الله عنه دے رحمت او سلام د وی په دهٔ باندے. هغوی تشریف راوړے وو ستا سره د نسبت کولو دپاره. هغې اووے زهٔ ډیره بد قسمته وم (ځکه چه ما پناه اوغوښته د هغوی نه (ددے حدیث نه معلومه شوه چه د کوژدن کونکے ښځې طرفته کتل صحیح دی) سهل وائی بیا رسول الله ﷺ په دغه ورځ راغې او د بنی ساعده په محفل کښې کیناستو حضرت ﷺ او د هغوی ملګری بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل اے سهل په مونږه باندے اوڅکوه. سهل وائی ما دا پیاله

لَنَا سَهْلٌ ذٰلِكَ الْقَدَحَ فَشَرِبْنَا فِيهِ قَالَ ثُمَّ اسْتَوْهَبَهُ بَعْدَ ذٰلِكَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَوَهَبَهُ لَهُ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرِ بْنِ إِسْحٰقَ قَالَ اسْقِنَا يَا سَهْلُ

راواخسته او په تولو مے اوڅښله ابو حازم وائی سهل هغه پیاله واخسته ... مونږ خلقو هم په هغے کښں اوڅکل (د برکت دپاره) بیا عمر بن عبد العزیز (د خپل خلافت په زمانه کښں) هغه پیاله د سهل نه اوغوښته او سهل ورته ورکړه[1].

عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَقَدْ سَقَيْتُ رَسُولَ اللهِ بِقَدَحِي هٰذَا الشَّرَابَ كُلَّهُ الْعَسَلَ وَالنَّبِيذَ وَالْمَاءَ وَاللَّبَنَ

د انس نه روایت دے چه ما د دغه پیالۍ نه په رسول الله ﷺ باندے شهد او نبیذ او اوبۀ او پئ څکولی دی.

بَاب جَوَازِ شُرْبِ اللَّبَنِ

باب : د پيو د څښلو بيان

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ لَمَّا خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ مَرَرْنَا بِرَاعٍ وَقَدْ عَطِشَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَ فَحَلَبْتُ لَهُ كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَشَرِبَ حَتَّى رَضِيتُ

د براء نه روایت دے چه ابوبکر صدیق وئیلی دی هر کله چه مونږ د رسول الله ﷺ سره اووتو د مکے نه مدینے ته نو یو شپونکے میلاؤ شو او حضرت ﷺ تږے وو. وائی چه ما لږ شان پئ اولوشل او راوړل مے راغلم حضرت اوڅښل تردے پورے چه زۀ پوهه شوم چه بس حضرت ﷺ ته پوره شو[2].

عَنِ الْبَرَاءِ يَقُولُ لَمَّا أَقْبَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَأَتْبَعَهُ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاخَتْ

د براء نه روایت دے چه هر کله رسول الله ﷺ د مکے نه مدینے ته راتلو نو سراقه بن مالك ورپسے روستو راروان وو (د مشرکانو د طرفنه) حضرت ﷺ د هغۀ ته خیرے اوکړے د هغۀ آس خخ شو. (یعنی زمکے هغه لره اونیوۀ) نو هغۀ اوے تاسو څما دپاره دُعا

---

[1] نووی وائی دا دے حدیث نه دا اووتل چه د رسول الله ﷺ د آثار مقدسه نه برکت اخستل جائز دی. او کوم څیز چه حضرت ﷺ مسحه کړے وی یا ئے اغوستلے وی هغه تول متبرك دی. او د سلفو خلفو په دے باندے اجماع ده چه په کوم ځائے کښں حضرت ﷺ مونځ کړے دے په روضه مبارکه کښں هلته مونځ کول د برکت دپاره. دغه شان هغه غار ته تلل چه په کوم غار کښں حضرت استوګنه کړے وه. او دا په دغه قسم کښں دی لکه څنګه چه حضرت ﷺ ابوطلحه ته خپل ویښتۀ ورکړی وو په خلقو کښں د ویشلو دپاره او خپله کپړه ئے ورکړے وه د لورد کفن دپاره. او په قبر باندے ئے خانګے لګولے وے. او د ملحان لور د حضرت ﷺ خوله جمع کړے وه. او د حضرت ﷺ د اودس مبارك اوبۀ صحابو په بدن باندے لګولے. او د حضرت ﷺ لاړے به ئے په مخ باندی لګولے. او د دے نظائر ډیر دی په صحیح حدیثو کښں او دا واضح دے په دے کښں څۀ شك نشته. انتهی

[2] نووی وائی د دغه څناورو مالك کافر حربی وو او د هغۀ مال اخستل صحیح دی یا به د هغے مالك په څښلو سره خفه نۀ وو. یا به د عربو په ملك کښں داسے کار د دستور خلاف نۀ وو.

فَرَسُهُ فَقَالَ ادْعُ اللهَ لِي وَلَا أَضُرُّكَ قَالَ فَدَعَا اللهَ قَالَ فَعَطِشَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَرُّوا بِرَاعِي غَنَمٍ قَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ فَأَخَذْتُ قَدَحًا فَحَلَبْتُ فِيهِ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ فَأَتَيْتُهُ بِهِ فَشَرِبَ حَتَّى رَضِيتُ.

اوکړئ نو زۀ به تاسو ته نقصان نۀ رسوم. حضرت ﷺ دُعا اوکړه (هغۀ ته خلاصے میلاو شو) بیا حضرت ﷺ تږے شو او د بزو یو څرونکے ورته میلاو شو. ابوبکرؓ وائی ما پیاله واخسته او لږ شان پئ مې د حضرت ﷺ دپاره اولوشل او هغه مې راوړل راغلم. حضرت ﷺ اوڅښل تر دے پورے چه زۀ پوهه شوم چه بس حضرت ﷺ ته کافی شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ بِإِيلِيَاءَ بِقَدَحَيْنِ مِنْ خَمْرٍ وَلَبَنٍ فَنَظَرَ إِلَيْهِمَا فَأَخَذَ اللَّبَنَ فَقَالَ لَهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ الْحَمْدُ لِلهِ الَّذِي هَدَاكَ لِلْفِطْرَةِ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه په کومه شپه رسول الله ﷺ بیت المقدس ته راوستے شو نو هغوی له دوه پیالئ راوړے شوے. په یوه کښې شراب وو او په بله کښې پئ. حضرت ﷺ دواړو ته اوکتل او د پیو پیاله ئے واخسته حضرت جبرائیل علیه السلام اووے قسم دے په هغه اللهؑ چا چه تا ته د فطرت هدایت کړے دے (یعنی د اسلام او استقامت) کچرے تا شراب اخستے وے نو ستا امت به گمراه شوے وو. دا دے حدیث بیان په کتاب الایمان کښې تیر شوے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ بِإِيلِيَاءَ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه راوستے شو رسول الله ﷺ (مخکښې مضمون) د پورتنی حدیث پشان او په دے کښې د ایلیاء ذکر نشته دے.

بَابُ اسْتِحْبَابِ وَتَخْمِيرِ الْإِنَاءِ وَغَيْرِهِ

باب: لوښی لره پټول او د نورو خبرو بیان

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحِ لَبَنٍ مِنَ النَّقِيعِ لَيْسَ مُخَمَّرًا فَقَالَ أَلَا خَمَّرْتَهُ وَلَوْ تَعْرُضُ عَلَيْهِ عُودًا قَالَ أَبُو حُمَيْدٍ إِنَّمَا أُمِرَ بِالْأَسْقِيَةِ أَنْ تُوكَأَ لَيْلًا وَبِالْأَبْوَابِ أَنْ تُغْلَقَ لَيْلًا

د ابوحمید ساعدی نه روایت دے چه ما رسول الله ﷺ له د نقیع نه د پیو یوه پیاله راوړه (نقیع په وادی عقیق کښې یو مقام دے) چه هغه مې پټه کړے نۀ وه. حضرت ﷺ اوفرمائیل تا دا پیاله پټه کړے ولے نۀ ده. د یو لرگی پرده به د په دے باندے ایخودے وه (کۀ د پټولو نور څۀ نۀ وو) ابوحمید وائی حضرت ﷺ حکم اوکړو د شپے د مشك پټولو او د دروازو د بندولو.

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحِ لَبَنٍ بِمِثْلِهِ قَالَ وَلَمْ يَذْكُرْ زَكَرِيَّاءُ قَوْلَ أَبِي حُمَيْدٍ بِاللَّيْلِ

د ابوحمید ساعدیؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ ته پیو پیاله راوړے شوه ... مخکښی مضمون د پورتنی حدیث پشان په دے کښی زکریا د ابوحمید قول "شپے لره" ذکر کړے نه دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَسْقَى فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا نَسْقِيكَ نَبِيذًا فَقَالَ بَلَى قَالَ فَخَرَجَ الرَّجُلُ يَسْعَى فَجَاءَ بِقَدَحٍ فِيهِ نَبِيذٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَلَا خَمَّرْتَهُ وَلَوْ تَعْرُضُ عَلَيْهِ عُودًا فَقَالَ شَرِبَ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو. حضرت ﷺ اوبۀ اوغوښتلے. یو سړی اووے یا رسول اللهؐ زۀ پتاسو باندے نبیذ څکوم. حضرت ﷺ اووے ډیره ښه ده. هغوی منډے کړے او یوه پیاله د نبیذ ئے راوړه حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو دا پټه کړے ولے نۀ ده. د یو لرګی پرده به دِ پرے کړے وه. بیا حضرت ﷺ هغه اوڅښله

عَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ أَبُو حُمَيْدٍ بِقَدَحٍ مِنْ لَبَنٍ مِنَ النَّقِيعِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا خَمَّرْتَهُ وَلَوْ تَعْرُضُ عَلَيْهِ عُودًا

د جابرؓ نه روایت دے وائی چه یو سړے راغے چه هغه ته به ئے ابوحمید وئیل او د نقیع نه ئے د پیو یوه پیاله راوړه. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل تا دا پټه کړے ولے نۀ ده؟ کاش چه د لرګی یوه لخته دِ پرے پرده ایخودے وے.

عَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ غَطُّوا الْإِنَاءَ وَأَوْكُوا السِّقَاءَ وَأَغْلِقُوا الْبَابَ وَأَطْفِئُوا السِّرَاجَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَحُلُّ سِقَاءً وَلَا يَفْتَحُ بَابًا وَلَا يَكْشِفُ إِنَاءً فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا أَنْ يَعْرُضَ عَلَى إِنَائِهِ عُودًا وَيَذْكُرَ اسْمَ اللهِ فَلْيَفْعَلْ فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ بَيْتَهُمْ وَلَمْ يَذْكُرْ قُتَيْبَةُ فِي حَدِيثِهِ وَأَغْلِقُوا الْبَابَ

د جابرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی پټوئ لوښی لره او کلکوئ مشک لره او بندوئ دروازو لره. او مړه کوئ چراغ (هور) لره ځکه چه شیطان مشك نۀ شی پرانستلے او دروازه نۀ شی بیرته کولے او لوښے نۀ شی سرتور کولے. پس کچرے ستاسو نه یو کس ته څۀ نۀ میلاویږی سوا د یو لرګی ډکی نه نو هغه د پرے پرده کړی او د الله نوم دِ واخلی ځکه چه منګکان د خلقو کورونه سیزی (د ډیوے بتی راکاږی او آبادئ ته اور اولګوی) د قتیبه په روایت کښی د دروازے د بندولو ذکر نشته دے.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَاكْفِئُوا الْإِنَاءَ أَوْ خَمِّرُوا

جابرؓ د نبی کریم ﷺ نه دغه حدیث روایت کړے دے مګر په دے کښی وئیلی دی لوښی پاستر کړئ یا پټ کړئ او په دے کښی د

الإِنَاءِ وَلَمْ يَذْكُرْ تَعْرِيضَ الْعُودِ عَلَى الإِنَاءِ

لرګی د ایخودو ذکر نشته

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَغْلِقُوا الْبَابَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ اللَّيْثِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَخَمِّرُوا الآنِيَةَ وَقَالَ تُضْرِمُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ ثِيَابَهُمْ

جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دروازے بندہ وئ (مخکښنی حدیث بیان کړو) د لیث د حدیث پشان مګر په دے کښی دی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل لوښی پټ کړئ. او اونے وئیل (مګکے) سیزی د کورونو والاؤ کپړے.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ وَقَالَ وَالْفُوَيْسِقَةُ تُضْرِمُ الْبَيْتَ عَلَى أَهْلِهِ

جابر د نبی ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے. او فرمائیلی دی او مګکے کور سیزی په کور والاؤ باندے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ أَوْ أَ تُمْ فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوهُمْ وَأَغْلِقُوا الأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شَيْئًا وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه د شپے تیارهٔ شی یا مابنام وی نو خپل بچی (د کوره بهر) وتلوته مهٔ پریږدئ ځکه چه شیطان دغه وخت رااوځی خوریږی. نو هر کله چه یوه ګهنته شپه تیره شی نو هغوی پریږدئ او دروازے بندے کړئ او د الله تعالی نوم واخلئ ځکه چه شیطان بندے دروازے نهٔ شی بیرته کهولے. او مشکونه کلك اوتړئ او د الله نوم واخلئ. او خپل لوښی پټ کړئ او د الله تعالی نوم واخلئ. او کچرے د یو لوښی د پټولو څهٔ میلاؤ نهٔ شی. نو په هغے باندے پرده څهٔ کیږدئ او خپلے رڼاګانے مړے کوئ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ نَحْوًا مِمَّا أَخْبَرَ عَطَاءٌ إِلَّا أَنَّهُ لَا يَقُولُ اذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

جابر بن عبد الله دغسے روایت کړے دے خنګه چه د عطاء نه مګر په دے کښی دا نشته دے چه د الله نوم واخلئ.

عَنْ عَطَاءٍ وَعَمْرِو بْنِ دِينَارٍ كَرِوَايَةِ رَوْحٍ

د ابن جریج نه دغه حدیث مروی دے د عطاء او عمرو بن دینار په واسطه سره د روح د روایت پشان.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تُرْسِلُوا فَوَاشِيَكُمْ وَصِبْيَانَكُمْ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ فَإِنَّ

د جابر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خپلو خناورو او بچو لره مهٔ پریږدئ هر کله چه نمر پریوځی تردے پورے چه د ماسختن تیارهٔ لاړه شی ولے چه شیطان رالیږلے شی د

الشَّيَاطِيْنَ تَنْبَعِثُ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ

ماسختن د تیرے ختمیدو پورے.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِ زُهَيْرٍ

جابر د رسول الله ﷺ نه د زهیر (راوی) پشان روایت کړے دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ غَطُّوا الإِنَاءَ وَأَوْكُوا السِّقَاءَ فَإِنَّ فِي السَّنَةِ لَيْلَةً يَنْزِلُ فِيهَا وَبَاءٌ لَا يَمُرُّ بِإِنَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ غِطَاءٌ أَوْ سِقَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ وِكَاءٌ إِلَّا نَزَلَ فِيهِ مِنْ ذَلِكَ الْوَبَاءِ

د جابر بن عبدالله نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو لوښے پټوئ او مشك لره بندوئ ځکه چه په کال کښ یوه شپه داسے وی چه په هغے کښ وبا نازلیږی. بیا هغه وبا چه کوم لوښے سرتورسر پاتے شی یا مشك کھولاؤ پاتے شی په هغے کښ پریوزی.[1]

عَنْ لَيْثِ بْنِ سَعْدٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَإِنَّ فِي السَّنَةِ يَوْمًا يَنْزِلُ فِيهِ وَبَاءٌ وَزَادَ فِي آخِرِ الْحَدِيثِ قَالَ اللَّيْثُ فَالأَعَاجِمُ عِنْدَنَا يَتَّقُونَ ذَلِكَ فِي كَانُونَ الأَوَّلِ

د لیث بن سعد نه هم په دغه اسناد سره دغسے روایت دے مګر په کښ دادی چه په کال کښ یوه ورځ بلا نازلیږی. او لیث وئیلی دی چه زمونږ په ملك کښ د عجم خلق په کانون اول کښ دده نه بچ کیږی (کانون اول {کانون اول په شامی ژبه کښ د دسمبر میاشت ته وائی او کانون ثانی جنوری ته وئیلے شی} هغه میاشت ده هر کله چه نمر د بُرج قوس په مینځ کښ راشی او کانون ثانی هغه میاشت ده چه په دلو { په عربئ کښ دے میاشتو ته فصول الشتاء وئیلے شی} کښ راځی).

---

[1] او ځوك چه ددغه لوښی نه خوراك خوری یا د هغے نه اوبۀ څکی نوهغۀ ته وباء جوړیږی او دغه شان په خلقو کښ هغه وباء خوریږی ددے حدیث نه معلومه شوه چه وباء حکم الهی ده د اوبو یا هوا د فساد نه وباء نۀ راځی. او ددے دلیل دادے چه هم دغه یوه هوا او یو شان اوبۀ ډیر خلق استعمالوی نو په خنو وباء راځی او په خنو نۀ راځی. د یوے مُدے نه ډاکټر او حکیم د وباء علت معلوموی او ددے دپاره هر قسم خاورے الوزوی. خو د نن ورځے پورے چا داسے علت معلوم نۀ کړو چه په هغے باندے کلك یقین پیدا شی. خنے وائی د وباء علت د اوبو فساد دے او همیشه اوبو لره ګرمے شوے او پخے شوے بیا په کوټلے او په شکه کښ چانړ کړے شوے څکل پکار دی خنے وائی دا د هوا فساد دے او ددے نه خلاصے نشته دے. سوا ددے نه چه د چونے یو ډیرے یا کوټلے لره په کور کښ اوساتی. سرکه په دیوالونو باندے سپرے کړی او پلیتی لرے کړی او ګندګی د باؤکړی د ډامر ګندهک لوګے وربوبول پکاری دی. او کافور د بویه وی. خنے وائی دا د غوښے د فساد نه پیدا کیږی خنے وائی د ترکارو د فساد نه. خنے وائی د هر بنیادم په بدن کښ دا زهر وی خو هر کله چه خوارۀ شی او په وینه کښ شریك شی نو دغه وخت مرض پیدا کیږی. والله اعلم بالصواب.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تَنَامُونَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مه پریږدئ انګار لره په خپلو کورونو کښ هر کله چه اوده کیږئ.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ احْتَرَقَ بَيْتٌ عَلَى أَهْلِهِ بِالْمَدِينَةِ مِنَ اللَّيْلِ فَلَمَّا حُدِّثَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بِشَأْنِهِمْ قَالَ إِنَّ هَذِهِ النَّارَ إِنَّمَا هِيَ عَدُوٌّ لَكُمْ فَإِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوهَا عَنْكُمْ

د ابوموسیٰ نه روایت دے وائی چه د شپے په مدینه منوره کښ د چا کور اوسیزلے شو رسول الله ﷺ چه هر کله خبر شو نو اوئے فرمائیل دا اُور ستاسو دشمن دے هر کله چه اوده کیږئ نو دے لره مړ کوئ.

بَابُ آدَابِ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ

باب : د خوراك او د څكاك د آدابو بیان

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا إِذَا حَضَرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا لَمْ نَضَعْ أَيْدِيَنَا حَتَّى يَبْدَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعَ يَدَهُ وَإِنَّا حَضَرْنَا مَعَهُ مَرَّةً طَعَامًا فَجَاءَتْ جَارِيَةٌ كَأَنَّهَا تُدْفَعُ فَذَهَبَتْ لِتَضَعَ يَدَهَا فِي الطَّعَامِ فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهَا ثُمَّ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ كَأَنَّمَا يُدْفَعُ فَأَخَذَ بِيَدِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ جَاءَ بِهَذِهِ الْجَارِيَةِ لِيَسْتَحِلَّ بِهَا فَأَخَذْتُ بِيَدِهَا فَجَاءَ بِهَذَا الْأَعْرَابِيِّ لِيَسْتَحِلَّ بِهِ فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ يَدَهُ فِي يَدِي مَعَ يَدِهَا

د حذیفه نه روایت دے چه مونږ به هر کله د رسول الله ﷺ سره غله خوړله نو لاس به مو نه ور وړو ترهغے پورے چه حضرت ﷺ به شروع نه وه کړے. نو مونږ به خوراك له لاس نه ور وړو. يو ځل مونږ د حضرت ﷺ سره په خوراك باندے موجود وو چه يوه جينئ په منډه راغله لکه چه چا رازغلولی وی. او هغے خپل لاس خوراك له ور وړل غوښتل حضرت ﷺ د هغے لاس اونيول بيا يو باندیچی په منډه راغے حضرت د هغهٔ لاس هم اونيوؤ. بيائے اوفرمائيل چه شيطان په هغه خوراك باندے قدرت مومی چه په هغے باندے د الله نوم وانهٔ خستے شی. او هغه يوه جينئ راوسته په دے غله باندے د قدرت حاصلولو دپاره. ما د هغے لاس اونيول بيائے دا باندیچے راوستو هم په دغه غرض سره ما د هغهٔ لاس هم اونيوؤ. قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښ چه د محمد روح دے چه د شيطان لاس خما په لاس کښ دد ے جينئ د لاس سره دے[1].

---

[1] نووی وئیلی دی دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه د خوراك شروع کولو نه مخکښ بسم الله الخ وئيل پکار دی او غوره دا ده چه په زوره ئے اووائی خکه چه د چا نه هير شوی وی هغه به ئے هم واوری نو اوبه وائی. او د چا چه په شروع کښ بسم الله وئيل هير شی او په خوراك کښ ورته راياد شی نو بسم الله اوله و آخره د اووائی او حالت د جنابت يا د حيض د بسم الله وئيلو مانع نهٔ دے. اوس صحيح

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ قَالَ كُنَّا إِذَا دُعِينَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى طَعَامٍ فَذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ وَقَالَ كَأَنَّمَا يُطْرَدُ وَفِي الْجَارِيَةِ كَأَنَّمَا تُطْرَدُ وَقَدَّمَ مَجِيءَ الْأَعْرَابِيِّ فِي حَدِيثِهِ قَبْلَ مَجِيءِ الْجَارِيَةِ وَزَادَ فِي آخِرِ الْحَدِيثِ ثُمَّ ذَكَرَ اسْمَ اللهِ وَأَكَلَ

د خذيفه بن اليمان نه روايت دے چه مونږ به هر كله خوراك ته رابللے شو د رسول الله ﷺ سره (مخكښې د ابومعاويه د حديث هم معنى حديث ئے بيان كړو. او په دے كښې اووے. خنګه چه منع كيدهٔ او د جينۍ په باره كښې خنګه چه منع كيده. او په دے كښې د بانډيچي د راتلو ذكر مخكښې دے د جينۍ د راتلو نه دذكر نه او د حديث په آخر كښې دى چه بيا حضرت ﷺ د الله نوم واخستهٔ او اوئے خوړه.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَدَّمَ مَجِيءَ الْجَارِيَةِ قَبْلَ مَجِيءِ الْأَعْرَابِيِّ

د اعمش نه په دغه اسناد سره روايت دے او په دے كښې د جينۍ راتلل مقدم كړى دى په بانډيچي باندے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ فَذَكَرَ اللهَ عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ لَا مَبِيتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللهَ عِنْدَ دُخُولِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ عِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ

د جابر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دى هر كله چه يو بنده خپل كورته خي او د ننوتو په وخت او د خوراك په وخت د الله عز وجل نوم اخلي نو شيطان (خپلو ملګرو او نورو تابعدارو ته) اووائي چه نهٔ دلته ستاسو د پاتے كيدو ځائے شته او نه خوراك شته او هر كله چه كورته د داخليدو په وخت د الله نوم وانخلي نو شيطان اووائي ستاسو د اوسيدو ځائے خو ميلاؤ شو. او هر كله چه د خوراك په وخت هم د الله نوم وانخلي نو شيطان اووائي ستاسو د اوسيدو ځائے هم اوشو او خوراك درته هم ميلاؤ شو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ إِنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي عَاصِمٍ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ وَإِنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ عِنْدَ طَعَامِهِ وَإِنْ لَمْ يَذْكُرِ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے هغوى اوريدلى دى د نبي ﷺ نه چه حضرت ﷺ فرمائيل د عاصم (راوى) د حديث پشان مګر (راوى وئيلي دى) حضرت ﷺ اوفرمائيل كچرے د الله نوم ئے د خوراك په وخت وانخستهٔ او كچرے د الله نوم ئے كورته د داخليدو په وخت

مذهب چه په هغے باندى جمهور علماء د سلف او خلف محدثين او فقهاء او متكلمين روان دى هغه دادے چه دا حديث او نور كوم احاديث چه د شيطان د خوراك په باره كښې راغلي دى هغه ټول په خپل ظاهر باندے محمول دى. او شيطان په حقيقت كښې خوراك كوى ځكه چه عقلًا دا محال نهٔ دے. او شرع ددے نه انكار نهٔ دے كړے. بلكه ثابته كړے ئے ده. نو واجب دى قبلول ددے او اعتقاد يعنى عقيده ساتل په دے باندے؛ انتهى مختصراً

اسم الله عند دخوله

وانخستنهٔ

عَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَأْكُلُوا بِالشِّمَالِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِالشِّمَالِ

دحضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی تاسو په گس لاس خوراك مهٔ کوئ ځکه چه شیطان په گس لاس خوراك خوری.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه یو کس خوراك کوی نو په ښی لاس سره دِ خوری او هر کله چه څهٔ څښنی نو په ښی لاس دِ څښی ځکه چه شیطان په گس لاس سره خوری او په گس لاس سره څښنی[1].

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ سُفْيَانَ

د زهری نه د سفیان په واسطه سره روایت دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَأْكُلَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ بِشِمَالِهِ وَلَا يَشْرَبَنَّ بِهَا فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِهَا قَالَ وَكَانَ نَافِعٌ يَزِيدُ فِيهَا وَلَا يَأْخُذُ بِهَا وَلَا يُعْطِي بِهَا وَفِي رِوَايَةِ أَبِي الطَّاهِرِ لَا يَأْكُلَنَّ أَحَدُكُمْ

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی ستاسو نه دِ څوك په گس لاس سره نهٔ خوری او نهٔ دِ څښی په گس لاس سره ځکه چه شیطان په گس لاس سره خوری او څښی. د نافع په روایت کښې دومره زیاته ده چه مهٔ اخلئ او مهٔ ورکوئ په گس لاس سره.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ أَنَّ رَجُلًا أَكَلَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِمَالِهِ فَقَالَ كُلْ بِيَمِينِكَ قَالَ لَا أَسْتَطِيعُ قَالَ لَا اسْتَطَعْتَ مَا مَنَعَهُ إِلَّا الْكِبْرُ قَالَ فَمَا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ

د سلمه بن الاکوعؓ نه روایت دے چه یو سړی د رسول اللهﷺ په مخکښې په گس لاس سره خوراك خوړولو. حضرتﷺ ورته اوفرمائیل په ښی لاس خوره. هغهٔ اووے ځما نه نهٔ شی کیدے. حضرتﷺ اوفرمائیل الله دِ اوکړی چه ستا نه اونهٔ شی. او هغه د غرور په وجه سره داسے کړی وو. پس دینه بعد هغهٔ هغه لاس د خلے پورے اوچت نهٔ کړے شو[2].

---

[1] نوویؒ وائی دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه په ښی لاس سره خوړل څښل مستحب دی او په گس لاس سره مکروه دی. کچرے عذر وی نو په گس لاس سره هم صحیح دی.

[2] د هغهٔ لاس پاتے شو. دا سزا ده د الله تعالی او د هغهٔ د رسولؐ د مخالفت. خنو وئیلی دی چه دغه سړے منافق وو او د هغهٔ نوم بسر بن راعی العیر وو. دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه څوك بے د عذر نه د شریعت مخالفت اوکړی هغهٔ ته خیرے کول روا دی.

عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ كُنْتُ فِي حَجْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِي يَا غُلَامُ سَمِّ اللّٰهَ وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ

د عمرو بن ابی سلمهؓ نه روایت دے وائی چه زۀ د رسول الله ﷺ په غیره کښې وم (ځکه چه حضرت ﷺ د عرم د مور ام سلمهؓ سره نکاح کړے وه) او ما به خپل لاس په تالی کښې هر طرفته ګرځولو. حضرتﷺ اوفرمائیل اے هلکه د الله تعالی نوم واخله او په ښی لاس سره خوره. او څۀ چه د په مخکښې وی د هغے نه خوره.

عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ قَالَ أَكَلْتُ يَوْمًا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلْتُ آخُذُ مِنْ لَحْمٍ حَوْلَ الصَّحْفَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلْ مِمَّا يَلِيكَ

د عمر بن ابی سلمهؓ نه روایت دے چه ما یوه ورځ د رسول الله ﷺ سره غله خوړله نو ما د لوښی د هر طرفنه غوښنه اخستل شروع کړل. حضرت ﷺ راته اوفرمائیل . د خپل طرف نه خوره.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اخْتِنَاثِ الْأَسْقِيَةِ

د حضرت ابوسعیدؓ نه روایت دے چه منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ د مشك خولے لره په الته کولو سره د څښلو نه (داسے نۀ وی چه چرته چینجے وغیره خُلے ته لاړ شی)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ اخْتِنَاثِ الْأَسْقِيَةِ أَنْ يُشْرَبَ مِنْ أَفْوَاهِهَا

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ د مشك الته کولو او د هغے د خلے نه د اوبو څښلو نه

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَاخْتِنَاثُهَا أَنْ يُقْلَبَ رَأْسُهَا ثُمَّ يُشْرَبَ مِنْهُ

د زهری نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے مګر په دے کښې دی چه د دۀ الته کول او څکل دا دی چه د دۀ خلۀ الته کړے شی بیا ترے اوبۀ اوڅښلے شی

بَابُ فِي الشُّرْبِ قَائِمًا

باب: په ولاړے د اوبو څښلو بیان

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَجَرَ عَنِ الشُّرْبِ قَائِمًا

د حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده په ولاړے د اوبو څښلو نه

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا قَالَ قَتَادَةُ فَقُلْنَا فَالْأَكْلُ فَقَالَ ذَاكَ أَشَرُّ أَوْ أَخْبَثُ

د انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده په ولاړے د اوبو وغیره څښلو نه قتاده وائی مونږه اووے په ولاړے غله خوړل څنګه دی. انس اووے دا خو نور هم زیات بد دی[1].

[1] د ابن عباسؓ نه روایت دے چه حضرت ﷺ د زم زم اوبۀ په ولاړے څښلی دی نو دا نهی تنزیهی ده. او په ولاړے څښل نے هم جائز دی. (نووی)

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ قَتَادَةَ

انس د نبي ﷺ نه حديث بيان کړو او په دے کښې د قتاده قول ذکر کړے شوے نه دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ زَجَرَ عَنِ الشُّرْبِ قَائِمًا

د حضرت ابو سعيد خدري نه روايت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ په ولاړے د څښلو نه

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنِ الشُّرْبِ قَائِمًا

د ابوسعيد خدري نه روايت دے رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده په ولاړه د څښلو نه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَشْرَبَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ قَائِمًا فَمَنْ نَسِيَ فَلْيَسْتَقِئْ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی. څوک دے ستاسو نه په ولاړے اوبۀ نۀ څښي او کچرے په هيره سره ترے اوڅښي نو قے دِ ئے کړي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَقَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ مِنْ زَمْزَمَ فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ

د ابن عباس نه روايت دے چه ما په رسول الله ﷺ باندے د زم زم اوبۀ اوڅښلے او هغوي ولاړ وو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرِبَ مِنْ زَمْزَمَ مِنْ دَلْوٍ مِنْهَا وَهُوَ قَائِمٌ

د حضرت ابن عباس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د زم زم اوبۀ د يوے بوقے نه څښلے او ولاړ وو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ شَرِبَ مِنْ زَمْزَمَ وَهُوَ قَائِمٌ

د ابن عباس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د زم زم نه اوبۀ څښلے او ولاړ وو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَقَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَمْزَمَ فَشَرِبَ قَائِمًا وَاسْتَسْقَى وَهُوَ عِنْدَ الْبَيْتِ

د ابن عباس نه روايت دے چه ما په رسول الله ﷺ باندے د زم زم اوبۀ څکولے او حضرت ﷺ څښلے په ولاړے باندے او اوبۀ ئے غوښتلے د کعبے په خواه کښې.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمَا فَأَتَيْتُهُ بِدَلْوٍ

د شعبه نه په دغه اسناد سره روايت دے ، او ددے دواړو په حديثونو کښې دی چه ما بوقه د حضرت ﷺ خواله راوړه.

بَابُ كَرَاهَةِ التَّنَفُّسِ فِي نَفْسِ الْإِنَاءِ وَاسْتِحْبَابِ التَّنَفُّسِ ثَلَاثًا خَارِجَ الْإِنَاءِ

باب: په اوبو څښلو کښې په لوښي کښې ساه اخستل مکروه دی. او بهر درے ځل ساه اخستل مستحب دی

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابوقتاده نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده په لوښي

وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ

کښې دننه د ساه اخستلو نه

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَنَفَّسُ فِي الْإِنَاءِ ثَلَاثًا

د انس نه روایت دے رسول الله ﷺ به درې ځله ساه اخسته په لوښي کښې (یعنی په څښلو کښې د لوښي نه بهر یعنی درې ګوټه به ئې څښل)

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا وَيَقُولُ إِنَّهُ أَرْوَى وَأَبْرَأُ وَأَمْرَأُ قَالَ أَنَسٌ فَأَنَا أَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا

د حضرت انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په څښلو کښې درې ځله ساه اخستله او فرمائیل به ئې په داسې کولو سره ښه مړیدل کیږی. او تنده ښه ماتیږی. یا د بیمارئ نه پرے بنده صحت مومی. او اوبه په ښه شان سره هضمیږی. انس وائی زه هم په اوبو څښلو کښې درې ځله ساه اخلمه

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَقَالَ فِي الْإِنَاءِ

حضرت انس د نبی ﷺ نه دغسې حدیث روایت کړے دے او په دے حدیث کښې دی په لوښي کښې.

بَابُ اسْتِحْبَابِ إِدَارَةِ الْمَاءِ وَاللَّبَنِ وَنَحْوِهِمَا عَنْ يَمِينِ الْمُبْتَدِئِ

باب: پئ یا اوبه یا بل څۀ څيز لړو د ښی طرفه تقسیمول مستحب دی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلَبَنٍ قَدْ شِيبَ بِمَاءٍ وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ وَعَنْ يَسَارِهِ أَبُو بَكْرٍ فَشَرِبَ ثُمَّ أَعْطَى الْأَعْرَابِيَّ وَقَالَ الْأَيْمَنَ فَالْأَيْمَنَ

د حضرت انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له پئ راوړے شو چه پکښې اوبه هم وے. د حضرت ﷺ ښی طرفته یو بانډیچی سړے وو. او ګس طرفته ابوبکر صدیق رض. حضرت ﷺ پئ اوڅښل او بیائے هغه بانډیچی سړی ته ورکړه. او اوئے فرمائیل د ښی طرفه شروع کول پکار دی. بیا د ښی طرفه (اګر که ښی طرفته هغه سړے وی چه هغه د ګس طرف والا نه په مرتبه کښې کم وی)

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَأَنَا ابْنُ عَشْرٍ وَمَاتَ وَأَنَا ابْنُ عِشْرِينَ وَكُنَّ أُمَّهَاتِي يُحَثِّثْنَنِي عَلَى خِدْمَتِهِ فَدَخَلَ عَلَيْنَا دَارَنَا فَحَلَبْنَا لَهُ مِنْ شَاةٍ دَاجِنٍ وَشِيبَ لَهُ مِنْ بِئْرٍ فِي الدَّارِ

د حضرت انس نه روایت دے وائی هر کله چه رسول الله ﷺ مدینې ته تشریف راوړو په دغه وخت زۀ د لسو کالو وم. او هر کله چه حضرت ﷺ وفات شو هغه وخت زۀ د شلو کالو وم. او خما میاندو به ما ته د حضرت ﷺ د خدمت کولو رغبت راکوۀ. حضرت ﷺ زمونږ کورته راغے. مونږ د حضرت ﷺ دپاره د یوے ترلے شوے بزے نه پئ اولوشل

فَشَرِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ وَأَبُو بَكْرٍ عَنْ شِمَالِهِ يَا رَسُولَ اللهِ أَعْطِ أَبَا بَكْرٍ فَأَعْطَاهُ أَعْرَابِيًّا عَنْ يَمِينِهِ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَيْمَنَ فَالْأَيْمَنَ

او په کور کښې يو کوهے وو د هغې اُوبۀ مو د هغه پيو سره ميلاو کړے او جناب رسول خدا ﷺ هغه او څښل حضرت عمرؓ اووے او س ابوبکرؓ ته ورکړه چه هغوی د حضرت ﷺ نه ګس طرفته ناست وو. خو حضرت ﷺ يو باندېچي ته ورکړل چه د حضرت ﷺ نه ښي طرفته ناست وو او اوئې فرمائيل د ښي طرفه شروع کول پکار دي بيا د ښي طرفنه.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يُحَدِّثُ قَالَ أَتَانَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي دَارِنَا فَاسْتَسْقَى فَحَلَبْنَا لَهُ شَاةً ثُمَّ شُبْتُهُ مِنْ مَاءِ بِئْرِي هَذِهِ قَالَ فَأَعْطَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ فَشَرِبَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَأَبُو بَكْرٍ عَنْ يَسَارِهِ وَعُمَرُ وِجَاهَهُ وَأَعْرَابِيٌّ عَنْ يَمِينِهِ فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مِنْ شُرْبِهِ قَالَ عُمَرُ هَذَا أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ يُرِيهِ إِيَّاهُ فَأَعْطَى رَسُولَ اللهِ ﷺ الْأَعْرَابِيَّ وَتَرَكَ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الْأَيْمَنُونَ الْأَيْمَنُونَ الْأَيْمَنُونَ قَالَ أَنَسٌ فَهِيَ سُنَّةٌ فَهِيَ سُنَّةٌ فَهِيَ سُنَّةٌ

د انس بن مالكؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ زمونږ کور ته راغے او اوبۀ ئې اوغوښتې. مونږ د بزے نه پئ اولوشل او اوبۀ مو پکښې ميلاؤ کړے د هغه کوهي نه او رسول الله ﷺ ته مو ورکړے. حضرت ﷺ اوڅښلې او ابوبکرؓ د حضرت ﷺ نه ګس طرفته ناست وو او عمرؓ ئې مخے ته . او ښي طرفته يو باندېچے ناست وو. حضرت ﷺ هغه اعرابي ته ورکړو او ابوبکرؓ او عمرؓ ته ئې ورنکړو او اوئې فرمائيل ښي طرف والا رومبي دي بيا ښي طرف والا. انسؓ اووے دا خو سنت دي سنت دي سنت دي.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَ مِنْهُ وَعَنْ يَمِينِهِ غُلَامٌ وَعَنْ يَسَارِهِ أَشْيَاخٌ فَقَالَ لِلْغُلَامِ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أُعْطِيَ هَؤُلَاءِ فَقَالَ الْغُلَامُ لَا وَاللهِ لَا أُوثِرُ بِنَصِيبِي مِنْكَ أَحَدًا قَالَ فَتَلَّهُ رَسُولُ اللهِ

د سهل بن سعدؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ له د څښلو څۀ څيز راوړے شو. حضرت ﷺ اوڅښلو او ښي طرفته د حضرت ﷺ نه يو هلك وو او ګس طرفته مشران خلق وو حضرت ﷺ هلك ته اوفرمائيل چه تۀ ما ته اجازت راکوے رومبے دغه خلقو ته د ورکولو دپاره. هغۀ اووے نه. قسم په خدائے چه زۀ خپله حصه بل هيچا ته ورکول نۀ غوارم. ددے په اوريدو حضرت ﷺ (د څښلو هغه څيز) د هغه هلك

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَدِهِ

پهلاس کښې ورکړو[1]

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَقُولَا فَتَلَّهُ وَلَكِنْ فِي رِوَايَةِ يَعْقُوبَ قَالَ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ

سهل بن سعد د نبی ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان بیان کړو مګر دد ے روایت دواړو راویانو دا نه دی وئیلی چه حضرت ﷺ هغهٔ ته ورکړو لیکن یعقوب (راوی) وئیلی دی چه حضرت ﷺ هغهٔ ته ورکړو

بَابُ اسْتِحْبَابِ لَعْقِ الْأَصَابِعِ

باب : د خوړلو نه روستو ګوتے څټل مستحب دی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلَا يَمْسَحْ يَدَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا

د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه څوك ستاسو نه طعام خوری نو خپل لاس دِ نه پاکوی د کومے پورے چه ئے څټلی نه وی یا ئے څټلو ته ورکړی نه وی (خپلے بی بی ته یا بچی ته یا وینځے ته چه هغه ئے بد نهٔ ګڼری بلکه خوشحالیږی)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ مِنَ الطَّعَامِ فَلَا يَمْسَحْ يَدَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا

د ابن عباس نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه په تاسو کښې څوك څهٔ خوراك خوری نو د هغه وخته پورے مهٔ اوچوئ ترڅو پورے هغه مو څټلے نهٔ وی یا ئے اونهٔ څټوئ

عَنِ ابْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْعَقُ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ مِنَ الطَّعَامِ وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ حَاتِمٍ الثَّلَاثَ وَقَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ فِي رِوَايَتِهِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبٍ عَنْ أَبِيهِ

د کعب بن مالك نه روایت دے چه ما رسول الله ﷺ لره په خپلو دریو ګوتو څټلو لیدلے دے د غلے د خوړولو نه پس. او ابن حاتم د دریو ذکر نهٔ دے کړے. او ابن ابی شیبه په خپل روایت کښې وئیلی دی د عبد الرّحمٰن بن کعب نه او هغوی د پلار نه روایت کړے دے.

عَنِ ابْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْسَحَهَا

د کعب بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په درے ګوتو سره خوراك کوو او د لاس صفا کولو نه مخکښې به ئے ګوتو لره څټلے.

---

[1] بعضے وائی چه هغه هلك عبد الله بن عباس وو. او په مشرانو کښې خالد بن ولید وو. او حضرت ﷺ د هلك نه اجازت اوغوښتو دد ے دپاره چه د هغهٔ د خفګان یره نه وه. او د بانډیچی نه ئے اجازت اونهٔ غوښتو دد ے یرے نه چه هغه به خفه شی او تباه به شی. او د نبی طرف نه شکول وغیره مسنون دی بلا خلاف. او د مالك نه دد ے تخصیص د شکولو سره منقول دے. (نووی)

عَنْ كَعْبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْكُلُ بِثَلاَثِ أَصَابِعَ فَإِذَا فَرَغَ لَعِقَهَا

د کعب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په درے گوتو سره خوراك كولو. او هر كله چه به فارغ شو نو گوتے مبارکے به ئے اوڅټلے.

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

کعب بن مالك د نبی ﷺ د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِلَعْقِ الْأَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ وَقَالَ إِنَّكُمْ لاَ تَدْرُونَ فِي أَيِّهِ الْبَرَكَةُ

د جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو د گوتو او لوښی د څټلو او صفا کولو. او اوئے فرمائیل چه تاسو نه یئ خبر چه برکت په څهٔ کښې دے.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيَأْخُذْهَا فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى وَلْيَأْكُلْهَا وَلاَ يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ وَلاَ يَمْسَحْ يَدَهُ بِالْمِنْدِيلِ حَتَّى يَلْعَقَ أَصَابِعَهُ فَإِنَّهُ لاَ يَدْرِي فِي أَيِّ طَعَامِهِ الْبَرَكَةُ

د حضرت جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه د چا د لاسونو نه نمړئ پریوځی (او هغه ځائے پلیت نهٔ وی) نو هغه اوچته کړئ او که څهٔ گندگی وغیره پرے لگیدلے وی هغه ترے صفا کړئ او اوئے خورئ او د شیطان دپاره ئے مهٔ پریږدئ او خپل لاس په رومال سره مهٔ پاکوئ د کومے پورے چه گوتے څټلے نهٔ وی. ځکه چه دوی ته معلومه نهٔ ده چه په کوم خوراك کښې برکت دے.

عَنْ سُفْيَانَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَفِي حَدِيثِهِمَا وَلاَ يَمْسَحْ يَدَهُ بِالْمِنْدِيلِ حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا وَمَا بَعْدَهُ

د سفیان په دغه اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے او په دے دواړو حدیثونو کښې دی او لاس په رومال سره مهٔ اوچوئ ترڅو پورے چه اوئے نهٔ څټئ یا په بل ئے اوڅټئ گوتو لره.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَيْءٍ مِنْ شَأْنِهِ حَتَّى يَحْضُرَهُ عِنْدَ طَعَامِهِ فَإِذَا سَقَطَتْ مِنْ أَحَدِكُمُ اللُّقْمَةُ فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى ثُمَّ لِيَأْكُلْهَا وَلاَ يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ فَإِذَا فَرَغَ فَلْيَلْعَقْ أَصَابِعَهُ فَإِنَّهُ لاَ يَدْرِي فِي أَيِّ

د جابر نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو چه شیطان ستاسو نه د یو کس سره د هر کار په وخت موجود وی تردے پورې چه د خوراك په وخت هم. پس هر کله چه ستاسو نه د چا د لاس نه نمړئ اوغورځیږی نو هغه د صفا کړی کچرے څهٔ گندگی وغیره پرے لگیدلے وی او بیا د ئے اوخوری او د شیطان دپاره د ئے نهٔ پریږدی. هر کله چه د خوراك نه فارغ شی نو گوتے د اوڅټی ځکه چه دے نهٔ پوهیږی چه ددهٔ په کوم یو خوراك

طَعَامِهِ تَكُونُ الْبَرَكَةُ

کښې برکت دے.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ إِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ وَلَمْ يَذْكُرْ أَوَّلَ الْحَدِيثِ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ

د اعمش نه په دغه اسناد سره روایت دے هر کله چه په تاسو کښې د چا نه نمړئ اوغورځیږی د آخر حدیث پورے او په دے کښې د حدیث اول حصه چه شیطان په تاسو د هر یو سره موجود وی، ذکر کړے شوی نه دی

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِكْرِ اللَّعْقِ وَعَنْ أَبِي سُفْيَانَ عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ اللُّقْمَةَ نَحْوَ حَدِيثِهِمَا

د حضرت جابرؓ نه حدیث منقول دے د څټلو په باره کښې. او د ابوسفیان نه روایت دے چه هغوی د جابرؓ نه او هغوی د نبی ﷺ نه روایت کړے دے او په دے کښې د نمړئ ذکر دے د دواړو راویانو په حدیث کښې.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ قَالَ وَقَالَ إِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيُمِطْ عَنْهَا الْأَذٰى وَلْيَأْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ وَأَمَرَنَا أَنْ نَسْلُتَ الْقَصْعَةَ قَالَ فَإِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ فِي أَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ

د انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه به هر کله طعام اوخوړلو نو خپلے درے واړه ګوتے به ئے اوڅټلے. او فرمائیلی ئے دی ستاسو نه که د چا د لاس نه نمړئ اوغورځیږی نو هغه دِ صفا کړی او او دِ ئے خوری او د شیطان دپاره دِ ئے نه پریږدی او حکم ئے کړے دے مونږ ته د لوښی د صفا کولو. او فرمائیلی ئے دی تاسو ته معلومه نه ده چه په کوم یو طعام کښې برکت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَلْعَقْ أَصَابِعَهُ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِي أَيَّتِهِنَّ الْبَرَكَةُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه څوك طعام اوخوری نو خپلے ګوتے دِ اوڅټی. ځکه چه معلومه نه ده چه په کومه ګوته کښې برکت دے.

عَنْ حَمَّادٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَلْيَسْلُتْ أَحَدُكُمُ الصَّحْفَةَ وَقَالَ فِي أَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ أَوْ يُبَارَكُ لَكُمْ

د حماد نه په دغه اسناد سره روایت دے مګر په دے کښې دومره زیاته ده چه صفا کوی دِ یو د تاسو نه لوښی لره او فرمائیلی دی چه په کوم خوراك کښې برکت دے یا برکت وی ستاسو دپاره.

بَابُ مَا يَفْعَلُ الضَّيْفُ إِذَا تَبِعَهُ غَيْرُ مَنْ دَعَاهُ صَاحِبُ الطَّعَامِ

باب: کچرے د میلمه سره څوك غیر بللے ورسره شی نو څۀ به کوی

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ رَجُلٌ

د ابومسعود انصاریؓ نه روایت دے په انصارو کښې یو سړے وو

مِنَ الْأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ أَبُو شُعَيْبٍ وَكَانَ لَهُ غُلَامٌ لَحَّامٌ فَرَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَرَفَ فِي وَجْهِهِ الْجُوعَ فَقَالَ لِغُلَامِهِ وَيْحَكَ اصْنَعْ لَنَا طَعَامًا لِخَمْسَةِ نَفَرٍ فَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَدْعُوَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَامِسَ خَمْسَةٍ قَالَ فَصَنَعَ ثُمَّ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَاهُ خَامِسَ خَمْسَةٍ وَاتَّبَعَهُمْ رَجُلٌ فَلَمَّا بَلَغَ الْبَابَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذَا اتَّبَعَنَا فَإِنْ شِئْتَ أَنْ تَأْذَنَ لَهُ وَإِنْ شِئْتَ رَجَعَ قَالَ لَا بَلْ آذَنُ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ

چه نوم ئې ابوشعیب وو د هغهٔ یو غلام وو چه غوښه به ئې خرڅوله هغه سړی رسول الله ﷺ اولیدهٔ چه په مخ مبارك ئې د لوګې اثر معلومیدهٔ. هغهٔ خپل غلام ته اووے شابه زمونږ د پنځهٔ کسانو دپاره طعام تیار کړه. ځکه چه زهٔ رسول الله ﷺ میلمه کول غواړم او حضرت ﷺ پنځم دے په پنځو کښې. بیا هغه طعام تیار کړو او هغه سړے په رسول الله ﷺ پسے راغے او حضرت ﷺ ته ئې دعوت ورکړو. حضرت ﷺ پنځم وو د پنځوؤ نه او د هغوی سره یو بل سړے ملګرے شو. هر کله چه دروازے ته اورسیدو (حضرت ﷺ) اوفرمائیل (د کور مالك ته) دا سړے زمونږ سره راغلے دے. کچرے تهٔ غواړے نو دهٔ ته اجازت ورکړه ورنه واپس به لاړ شی. هغهٔ اووے نه زهٔ دهٔ ته اجازت ورکوم یا رسول الله![1]

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ بِهٰذَا الْحَدِيثِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِ جَرِيرٍ قَالَ نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ فِي رِوَايَتِهِ لِهٰذَا الْحَدِيثِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا شَقِيقُ بْنُ سَلَمَةَ حَدَّثَنَا أَبُو مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيُّ وَسَاقَ الْحَدِيثَ

ابومسعود انصاری رضی الله عنه دا حدیث د نبی ﷺ نه د جریر د حدیث پشان روایت کړے دے. نضر بن علی خپل روایت دد ے حدیث دا سے بیان کړے دے چه حدیث بیان کړے دے مونږ ته ابواسامه د هغوی نه اعمش هغوی ته شفیق بن سلمه هغوی ته ابومسعود انصاری رضی الله عنه او مخکښې ئې پوره حدیث بیان کړو.

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي سُفْيَانَ عَنْ جَابِرٍ بِهٰذَا الْحَدِيثِ

ابو مسعود رضی الله عنه د نبی ﷺ نه روایت کړے دے. او د اعمش هم د ابوسفیان په ذریعه سره د جابر رضی الله عنه نه دا حدیث مروی دے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ جَارًا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارِسِيًّا كَانَ طَيِّبَ الْمَرَقِ

د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ یو ګاونډی به مزیداره خوروا جوړوله او هغه د فارس وو. هغه یو ځل د رسول

[1] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه د میلمه سره کچرے یو سړے په ملګرتیا کښې لاړ شی نو د کور مالك به خبر وی هر کله چه د هغوی دروازے ته اورسی. او د کور د خاوند دپاره مستحب دی چه اجازت ورکړی. کچرے په هغے کښې څهٔ ضرر نهٔ وی.

فَصَنَعَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ جَاءَ يَدْعُوهُ فَقَالَ وَهٰذِهِ لِعَائِشَةَ فَقَالَ لَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا فَعَادَ يَدْعُوهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهٰذِهِ قَالَ لَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا ثُمَّ عَادَ يَدْعُوهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهٰذِهِ قَالَ نَعَمْ فِي الثَّالِثَةِ فَقَامَا يَتَدَافَعَانِ حَتَّى أَتَيَا مَنْزِلَهُ

الله ﷺ دپاره خوروا جوړه کړه او حضرت ﷺ له د دعوت دپاره راغے. حضرت ﷺ اوفرمائیل عائشےؓ ته هم دعوت دے هغهٔ اووے نه حضرت ﷺ اوفرمائیل نو زهٔ هم نهٔ شم درتلے. بیا هغه دوباره د دعوت دپاره راغے. حضرت ﷺ اوفرمائیل عائشےؓ ته هم دعوت دے. هغهٔ اووے نه حضرت ﷺ اوفرمائیل. نو زهٔ هم نهٔ شم درتلے. بیا هغه په دریم ځل د دعوت دپاره راغے. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل عائشےؓ ته هم دعوت دے هغهٔ په دریم ځل اووے آو. بیا دواړه روان شو د یو بل نه روسته (یعنی رسول الله ﷺ او جناب عائشه صدیقهؓ) تر دے پورے چه د هغهٔ کور ته اورسیدل[1].

بَاب جَوَازِ اسْتِتْبَاعِهِ غَيْرَهُ إِلَى دَارِ مَنْ يَثِقُ بِرِضَاهُ بِذٰلِكَ

باب: کهٔ د میلمه یقین وی چه کوربه د ځان سره د بل کس په بوتلو نهٔ خفه کیږی نو بوتلے شی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ لَيْلَةٍ فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ فَقَالَ مَا أَخْرَجَكُمَا مِنْ بُيُوتِكُمَا هٰذِهِ السَّاعَةَ قَالَا الْجُوعُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَأَنَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَخْرَجَنِي الَّذِي أَخْرَجَكُمَا قُومُوا فَقَامُوا مَعَهُ فَأَتَى رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَإِذَا هُوَ لَيْسَ فِي بَيْتِهِ فَلَمَّا رَأَتْهُ الْمَرْأَةُ قَالَتْ مَرْحَبًا وَأَهْلًا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ فُلَانٌ قَالَتْ ذَهَبَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا مِنَ الْمَاءِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه شپه بهر راووتو نو حضرت ابوبکرؓ او عمرؓ ئے اولیدل او تپوس ئے ترے اوکړو چه تاسو ولے په دے وخت راوتلی یئ: هغوی اووے د لوږے د وجے نه راوتلی یو یا رسول اللهﷺ حضرتؐ اوفرمائیل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښ چه ځما روح دے زهٔ هم د لوږے د وجے نه راوتلے یم. ځئ چه ځو. پس هغوی د حضرتؐ سره روان شو. حضرتؐ د یو انصاری دروازے له ورغے. نو هغه کور کښ نهٔ وو. او د هغهٔ ښځے د حضرتؐ په لیدو سره ووے مرحبا هر کله راشئ. حضرتؐ اوفرمائیل فلانے سړے (یعنی ستا خاوند) چرته تلے دے هغے اووے زمونږ دپاره د خوږو اوبو راوړو دپاره تلے دے (د دے حدیث نه معلومه شوه چه د نااشنا ښځے سره

---

[1] امام نوویؒ وائی چه حضرت ﷺ دعوت قبول نهٔ کړو په یو عذر سره. او حضرت ﷺ ته اختیار وو د دعوت د قبلولو او د نهٔ قبلولو. نو حضرت ﷺ بغیر د عائشےؓ نه قبول نهٔ کړو د دے وجے نه چه هغه به هم اوږی وه نو حضرت ﷺ یو اخے له دے وجے نهٔ تله.

إِذْ جَاءَ الْأَنْصَارِيُّ فَنَظَرَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ ثُمَّ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ مَا أَحَدٌ الْيَوْمَ أَكْرَمَ أَضْيَافًا مِنِّي قَالَ فَانْطَلَقَ فَجَاءَهُمْ بِعِذْقٍ فِيهِ بُسْرٌ وَتَمْرٌ وَرُطَبٌ فَقَالَ كُلُوا مِنْ هٰذِهِ وَأَخَذَ الْمُدْيَةَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكَ وَالْحَلُوبَ فَذَبَحَ لَهُمْ فَأَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ وَمِنْ ذٰلِكَ الْعِذْقِ وَشَرِبُوا فَلَمَّا أَنْ شَبِعُوا وَرَوُوا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هٰذَا النَّعِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمُ الْجُوعُ ثُمَّ لَمْ تَرْجِعُوا حَتّٰى أَصَابَكُمْ هٰذَا النَّعِيمُ

خبرے کول او هغې له جواب ورکول صحیح دے په عذر سره. دغه شان ښځه هغه سړے کورته دننه کولے شی د چا په راتلو سره چه د خاوند رضا وی، په دے کښې هغه انصاری سړے راغلے. هغه چه رسول الله ﷺ او د هغوی دواړه ملګری اولیدل نو اوئے وئیل د الله شکر دے چه نن ورځ د هیچا سره داسے عزتمند میلمانهٔ نشته لکه چه زمونږ سره دی بیا لاړو او د کهجورے یو وږے ئے راوړو چه په هغے کښې کچه او اوچے او تازه کهجورے وے او اوئے وئیل ددے نه خورئ بیا هغوی چاړهٔ واخسته حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل لنګه بزه مهٔ حلالوه. بیا هغهٔ یوه بزه حلاله کړه. او تولو د هغې غوښه اوخوړه. او کهجورے ئے هم اوخوړے او اوبهٔ ئے اوڅښلے هر کله چه د خوړلو او څښلو نه ماړهٔ شو نو حضرت ﷺ ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه ته اوفرمائیل قسم دے په هغه رب د چا په لاس کښې چه ځما روح دے چه خامخا به ستاسو نه تپوس کیږی د قیامت په ورځ چه تاسو د خپلو کورونو نه راووتئ د لوږے نه او بیانهٔ واپس کیږئ تر دے پورے چه تاسو ته دا نعمت میلاؤ شو[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ بَيْنَا أَبُو بَكْرٍ قَاعِدٌ وَعُمَرُ مَعَهُ إِذْ أَتَاهُمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا أَقْعَدَكُمَا هَاهُنَا قَالَا أَخْرَجَنَا الْجُوعُ مِنْ بُيُوتِنَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ خَلَفِ بْنِ خَلِيفَةَ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه ناست وو چه رسول الله ﷺ ددوی خواله تشریف راوړو او حضرت ﷺ ددوی نه تپوس اوکړو تاسو دلته څهٔ شی کینښنولے یئ. هغوی عرض اوکړو. مونږ د کورونو نه لوږے راویستلی دلته کینښنولے یو په هغه ذات قسم کوم چه تاسو په حقه سره پیغمبر رالیږلے یئ بیائے (مخکښې) د خلف بن امیه (راوی) د حدیث پشان ذکر کړو.

---

[1] ددے حدیث مبارک نه معلومیږی چه د حضرت ﷺ او د هغهٔ د صحابؤ ژوند په څهٔ طریقه تیر شوے دے. په یو حدیث کښې دی چه حضرت ﷺ ددنیا نه تشریف یوړلو خو د وریشو روټئ ئے په مړه ګیډه نهٔ ده خوړلے. او د وفات په وخت ترے زغره چاپیره وه. ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د لوږے په حالت کښې د خپل یو دوست خواله تلل روا دی. کچرے هغهٔ ته تکلیف نهٔ وي. او د پردی ښځے سره د ضرورت په وخت خبرے کول روا دی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ لَمَّا حُفِرَ الْخَنْدَقُ رَأَيْتُ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا فَانْكَفَأْتُ إِلَى امْرَأَتِي فَقُلْتُ لَهَا هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ فَإِنِّي رَأَيْتُ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيدًا فَأَخْرَجَتْ لِي جِرَابًا فِيهِ صَاعٌ مِنْ شَعِيرٍ وَلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ قَالَ فَذَبَحْتُهَا وَطَحَنَتْ فَفَرَغَتْ إِلَى فَرَاغِي فَقَطَّعْتُهَا فِي بُرْمَتِهَا ثُمَّ وَلَّيْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَا تَفْضَحْنِي بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ مَعَهُ قَالَ فَجِئْتُهُ فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّا قَدْ ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَنَا وَطَحَنَتْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ كَانَ عِنْدَنَا فَتَعَالَ أَنْتَ فِي نَفَرٍ مَعَكَ فَصَاحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ إِنَّ جَابِرًا قَدْ صَنَعَ لَكُمْ سُورًا فَحَيَّ هَلًا بِكُمْ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِينَتَكُمْ حَتَّى أَجِيءَ فَجِئْتُ وَجَاءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْدُمُ النَّاسَ حَتَّى جِئْتُ امْرَأَتِي فَقَالَتْ بِكَ وَبِكَ فَقُلْتُ قَدْ فَعَلْتُ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے هر کله چه خندق اوکنستلے شو (د مدینې نه چاپیره) نو ما د رسول الله ﷺ په مخ مبارك د لوګے اثر اولیدۀ. زۀ د خپلې بی بی خواته واپس شوم او ورته مے اووے. ستا سره څۀ شته؟ ځکه چه ما رسول الله ﷺ ډیر زیات اوږے لیدلے دے. هغې یوه تهیلۍ رااوویسته چه په هغې کښې یو اوګے وریشے وې. او زمونږ سره د بزے یو پۍ خوړونکے بچے وو. ما هغه ذبح کړو او خما ښځے اوړه واغږل هغه هم خما سره یو شان فارغه شوه. ما د هغۀ غوښه وړه کړه او په کټوئ کښې مے واچوله او د رسول الله ﷺ خواله روان شوم. ښځے مے اووے د رسول الله ﷺ او د هغۀ د ملګرو په مخکښې ما رسوا نۀ کړے. (یعنی خوراك لږ دے چرته ډیرو خلقو ته دعوت ورنۀ کړے) هر کله چه زۀ د هغو خواله راغلم نو پټ غوندے مے ورته عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ مونږ د بزے یو بچے ذبح کړے دے. او یو اوږے د وریشو اوړۀ چه زمونږ سره وو تیار کړی دی نو تاسو د څو ملګرو سره تشریف راوړئ. دومره په اوریدو رسول الله ﷺ آواز اوکړو او اوئے فرمائیل اے د خندق خلقو! جابر تاسو له دعوت کړے دے. ځئ چه لاړ شو. او حضرت ﷺ اوفرمائیل خپله کټوئ مۀ کوزوئ او د اوړو نه ډوډئ مۀ پخوئ د کومے پورے چه زۀ درغلے نۀ یم بیا زۀ کورته راغلم او جناب رسول الله ﷺ هم تشریف راوړو. حضرت ﷺ مخکښې وو او خلق په هغۀ وریسے وو. زۀ د خپلے ښځے خواله راغلم هغې اووے تۀ داسے داسے شے یعنی (خلق به بد ووائی روټئ کمه ده خلق زیات دی). ما خو هغسے کړی وو څنګه چه تا راته وئیلی وو (خو رسول الله ﷺ ظاهره کړه او ټولو ته ئے دعوت ورکړو) آخر هغوی هغه اوړۀ رابهر کړل او رسول الله ﷺ خپلے لاړے مبارکے په هغے کښې میلاو کړے او د برکت دُعائے اوکړه. بیا زمونږه د کټوئ په

عَلَى الْغَلِيظِ مِنْهُ

په لباس کښې

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَأَخْرَجَتْ إِلَيْنَا إِزَارًا غَلِيظًا مِمَّا يُصْنَعُ بِالْيَمَنِ وَكِسَاءً مِنَ الَّتِي يُسَمُّونَهَا الْمُلَبَّدَةَ قَالَ فَأَقْسَمَتْ بِاللَّهِ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ فِي هَذَيْنِ الثَّوْبَيْنِ

د ابوهريره نه روايت دے چه زۀ د حضرت عائشې خوا له لاړم.هغوی يو پيړه لنګ رااوويستۀ کوم چه په يمن کښې جوړيږی. او يو کمبل چه هغې ته ملبده وائی. بيائے په الله تعالی قسم اوخوړو چه د رسول الله ﷺ وفات په دغه دواړو کپړو کښې شوے وو.

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ إِزَارًا وَكِسَاءً مُلَبَّدًا فَقَالَتْ فِي هَذَا قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ قَالَ ابْنُ حَاتِمٍ فِي حَدِيثِهِ إِزَارًا غَلِيظًا

د ابوبرده نه روايت دے چه حضرت عائشې خما په مخکښې يو لنګ او يو کمبل پيوند کړے شوے رااوويستو او اوئے وئيل چه د رسول الله ﷺ وفات هم په دے کپړو کښې شوے دے.

عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ إِزَارًا غَلِيظًا

د ايوب نه په دغه اسناد سره د پورتنی حديث پشان روايت دے او په دے کښې دی پيړ لنګ.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مُرَحَّلٌ مِنْ شَعْرٍ أَسْوَدَ

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے چه رسول الله ﷺ يو سحر رااووتو او يو کمبل ئے پسر وو چه په هغې باندے د تورو ويختو د کجاوے تصويرونه جوړ شوی وو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ وِسَادَةُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ الَّتِي يَتَّكِئُ عَلَيْهَا مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ تکيه د څرمنے وه چه دننه د کهجورو د پټ نه ډکه وه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّمَا كَانَ فِرَاشُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي يَنَامُ عَلَيْهِ أَدَمًا حَشْوُهُ لِيفٌ

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ بستره په کومے چه به حضرت ﷺ اودۀ کيدو د څرمنے وه. چۀ دننه د کهجورے د پټ نه ډکه شوے وه.

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ ضِجَاعُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ يَنَامُ عَلَيْهِ

د هشام نه په دغه اسناد سره روايت دے. او په دے کښې (فراش په ځائے) ضِجاع (بستره) رسول الله ﷺ ده. د ابومعاويه په حديث کښې دی چه حضرت ﷺ به په هغې سملاستو.

بَاب جَوَازِ اتِّخَاذِ الأَنْمَاطِ

باب : د قالين يا د کټ څادرو د جائز کيدو بيان

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا تَزَوَّجْتُ أَتَّخَذْتَ أَنْمَاطًا قُلْتُ وَأَنَّى لَنَا أَنْمَاطٌ قَالَ أَمَا إِنَّهَا سَتَكُونُ

د جابر نه روايت دے هر كله چه ما نكاح اوكړه نو رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائيل تا كټ ځادرى جوړ كړى دى. ما اووے زمونږ سره كټ ځادرى د كومه شو. حضرت ﷺ اوفرمائيل اوس به نږدے اوشى. (هر كله چه ملكونه فتح شى او مسلمانان مالدار شى بيا هم دغسے اوشو. دا د حضرت ﷺ معجزه وه)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَمَّا تَزَوَّجْتُ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَّخَذْتَ أَنْمَاطًا قُلْتُ وَأَنَّى لَنَا أَنْمَاطٌ قَالَ أَمَا إِنَّهَا سَتَكُونُ قَالَ جَابِرٌ وَعِنْدَ امْرَأَتِي نَمَطٌ فَأَنَا أَقُولُ نَحِّيهِ عَنِّي وَتَقُولُ قَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا سَتَكُونُ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے هر كله چه ما نكاح اوكړه نو رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائيل ستا سره كټ ځادرى شته ما اووے زمونږ سره كټ ځادرى د كوم ځائے نه شوه. حضرت ﷺ اوفرمائيل اوس به اوشى. جابر وائى خما د بى بى سره يو كټ ځادرے دے. زۀ ورته وايم لرے كړه دے لره. او هغه وائى رسول الله ﷺ فرمائيلى دى اوس به كټ ځادرى وى (نو جابر به هغے لره لرے كوو په مكروه ګنړلو سره ځكه چه هغه خاسنت دے ددنيا)

عَنْ سُفْيَانَ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَزَادَ فَأَدَعُهَا

د سفيان نه په دے اسناد سره روايت دے او په دے كښى دا زياته كړه چه هغوى اووے. بيائے زۀ پريږدم.

بَاب كَرَاهَةِ مَا زَادَ عَلَى الْحَاجَةِ مِنَ الْفِرَاشِ وَاللِّبَاسِ

باب : د حاجت نه زياتے بسترے او جامے جوړول مكروه دى

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ وَفِرَاشٌ لِامْرَأَتِهِ وَالثَّالِثُ لِلضَّيْفِ وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى هغوى ته چه يوه بستره د سرى دپاره يوه د هغۀ د بى بى دپاره يوه د هغۀ د ميلمه دپاره پكار ده. او څلورمه به د شيطان وى[1].

بَاب تَحْرِيمِ جَرِّ الثَّوْبِ خُيَلَاءَ

باب : په تكبر سره كپړے زوړندول حرام دى

[1] يعنى بے ضرورته بسترے كۀ نے خالى غوړولى وى نو په هغے باندے شيطان ناسته كوى. مقصد د حديث دا دے چه د ضرورت نه زيات د دنيا سامان جمع كول مكروه دى او كۀ په اراده د كبر او فخر وى نو حرام دى

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَى مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نهٔ به ګوری الله تعالی د قیامت په ورځ د هغه سړی په طرف چه هغه خپله کپړه په زمکه راکاږی د لوئی د وجې نه

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ مَالِكٍ وَزَادُوْا فِيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ابن عمرؓ د نبی کریم ﷺ نه دغسے حدیث روایت کړے دے څنګه چه مالك او په دے "د قیامت د ورځې" زیاتے اوکړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الَّذِي يَجُرُّ ثِيَابَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. کوم سړے چه په تکبر سره خپلے کپړے راکاږی الله تعالی به د قیامت په ورځ دهٔ ته (د رحمت په نظر) اونهٔ ګوری.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِهِمْ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ابن عمرؓ د نبی ﷺ نه دغسے روایت کړے دے څنګه چه د پورتنو حدیثونو راویانو د ابن عمرؓ نه روایت کړے دے چه فرمائیلی دی رسول الله ﷺ چه کوم سړی په تکبر سره خپله کپړه راښکودله، الله تعالی به د قیامت په ورځ دهٔ ته (د رحمت په نظر) اونهٔ ګوری.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ ثِيَابَهُ

ابن عمرؓ به وئیل چه اوریدلی ما د رسول الله ﷺ د پورتنی حدیث پشان. مګر په دے کښ د ثوب (کپړه) په ځائے (ثیاب) کپړے دی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ رَأَى رَجُلًا يَجُرُّ إِزَارَهُ فَقَالَ مِمَّنْ أَنْتَ فَانْتَسَبَ لَهُ فَإِذَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي لَيْثٍ فَعَرَفَهُ ابْنُ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُذُنَيَّ هَاتَيْنِ يَقُوْلُ مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ لَا يُرِيْدُ بِذٰلِكَ إِلَّا الْمَخِيْلَةَ فَإِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه هغوی یو سړے اولیدهٔ چه خپل پرتوګ ئے راښکودهٔ. هغوی ترے تپوس اوکړو چه تهٔ د کومے قبیلے ئے هغهٔ بیان اوکړو. نو معلومه شوه چه د بنی لیث وو. ابن عمرؓ هغهٔ لره اوپیژندهٔ نو ورته ئے اووے. ما د رسول الله ﷺ نه په دې خپلو دوارو غوږونو اوریدلی دی چه فرمائیل ئے څوك چه خپل پرتوګ د تکبر په نیت سره زوړند کړی نو الله تعالی به د قیامت په ورځ د هغهٔ په طرف اونهٔ ګوری.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيْثِ أَبِي يُوْنُسَ

ابن عمرؓ د نبی ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے. مګر ابویونس چه د مسلم نه کوم روایت کړے دے او په باقی ټولو

عَنْ مُسْلِمٍ أَبِي الْحَسَنِ وَفِي رِوَايَتِهِمْ جَمِيعًا مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ وَلَمْ يَقُولُوا ثَوْبَهُ

روایتونو کښې شته چا چه خپل لنګ لره الخ او بل چا ثوب (کپړه) نه ده وئیلې.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ يَقُولُ أَمَرْتُ مُسْلِمَ بْنَ يَسَارٍ مَوْلَى نَافِعِ بْنِ عَبْدِ الْحَارِثِ أَنْ يَسْأَلَ ابْنَ عُمَرَ قَالَ وَأَنَا جَالِسٌ بَيْنَهُمَا أَسَمِعْتَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الَّذِي يَجُرُّ إِزَارَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ شَيْئًا قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د محمد بن عباد بن جعفر نه روایت دے چه ما حکم اوکړو مسلم بن یسار ته چه آزاد کړے غلام وو د نافع بن عبد الحارث. د ابن عمرؓ نه د تپوس کولو او زهٔ په دغه ورځ په مینځ کښې ناست وم. آیا تا د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی د هغه سړی په باره کښې چه هغه خپل پرتوګ د تکبر نه زوړند کړے وی. هغوی اووے ما د حضرتﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئې وو الله تعالی به هغهٔ ته اونهٔ ګوری د قیامت په ورځ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَرَرْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي إِزَارِي اسْتِرْخَاءٌ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللهِ ارْفَعْ إِزَارَكَ فَرَفَعْتُهُ ثُمَّ قَالَ زِدْ فَزِدْتُ فَمَا زِلْتُ أَتَحَرَّاهَا بَعْدُ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ إِلَى أَيْنَ فَقَالَ أَنْصَافِ السَّاقَيْنِ

د ابن عمرؓ نه روایت دے چه زهٔ د رسول اللهﷺ په مخکښې تیر شوم او خما پرتوګ ښکته شوے وو. حضرتﷺ اوفرمائیل اے عبد الله خپل پرتوګ اوچت کړه. ما اوچت کړو. حضرتﷺ اوفرمائیل نور ئے اوچت کړه. ما نور اوچت کړو او اوچتوؤ مے تردے پورے چه څنے خلقو عرض اوکړو چه د کومے پورے به ئے اوچتوے حضرتﷺ اوفرمائیل د پنډۍ د نیمے پورے.

عَنْ مُحَمَّدٍ وَهُوَ ابْنُ زِيَادٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ وَرَأَى رَجُلًا يَجُرُّ إِزَارَهُ فَجَعَلَ يَضْرِبُ الْأَرْضَ بِرِجْلِهِ وَهُوَ أَمِيرٌ عَلَى الْبَحْرَيْنِ وَهُوَ يَقُولُ جَاءَ الْأَمِيرُ جَاءَ الْأَمِيرُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى مَنْ يَجُرُّ إِزَارَهُ بَطَرًا

د محمد بن زیاد نه روایت دے ما د ابوهریرهؓ نه اوریدلی دی چه هغوی یو سړے اولیدهٔ چه پرتوګ ئے ښکته کړے وو او د خپو سره ئے په زمکه راښکودهٔ. هغه امیر وو په بحرین باندے. اووئیلے شو امیر راغے امیر راغے. رسول اللهﷺ فرمائیلی دی الله به اونهٔ ګوری (د رحمت په نظر) هغه سړی ته چه هغه خپل پرتوګ د غرور نه ښکته کړے وی.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ جَعْفَرٍ كَانَ مَرْوَانُ

د شعبه په دے اسناد سره روایت دے. ابن جعفر په حدیث کښې دی وو مروان.

يَسْتَخْلِفُ أَبَا هُرَيْرَةَ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ الْمُثَنَّى كَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يَسْتَخْلِفُ عَلَى الْمَدِينَةِ

ابوهريره رضي الله عنه لره خپل خليفه جوړولو او د ابن مثنى په حديث کښې دي ابوهريره رضي الله عنه خليفه وو په مدينه[1]

بَاب تَحْرِيمِ التَّبَخْتُرِ فِي الْمَشْيِ مَعَ إِعْجَابِهِ بِثِيَابِهِ

باب: په کپړو وغيره باندې په ناز سره تلل د تکبر سره حرام دي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي قَدْ أَعْجَبَتْهُ جُمَّتُهُ وَبُرْدَاهُ إِذْ خُسِفَ بِهِ الْأَرْضُ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه يو سړے روان وو هغه په خپلو ويختو او څادر باندې نازيدۀ آخر په زمکه کښې ننباسلے شو. پس هغه به د قيامت پورې به زمکه کښې ننوتے روان وي (کيدې شي هغه سړے په دې امت کښې وي او صحيح داده چه په رومبی امت کښې)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ هَذَا

ابوهريره رضي الله عنه د نبي ﷺ نه دغسې حديث روايت کړے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَتَبَخْتَرُ يَمْشِي فِي بُرْدَيْهِ قَدْ أَعْجَبَتْهُ نَفْسُهُ فَخَسَفَ اللَّهُ بِهِ الْأَرْضَ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه يو سړی به تکبر کولو په تلو کښې په خپلو دواړو څادرو کښې او غرور به ئے کولو. نو الله تعالى هغۀ لره په زمکه کښې ننباسلو پس هغه به د قيامته پورې په دغه زمکه کښې په ښکته روان وي.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَتَبَخْتَرُ فِي بُرْدَيْنِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِهِ

همام بن منبه وئيلي دي دا هغه حديث دے کوم چه مونږ ته ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کړے دے. بيا هغۀ يو څو احاديث بيان کړل په هغوی کښې يو دا دے. چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر کله چه يو سړے په دوؤ څادرو کښې په تکبر تلو. بيائے ذکر کړو (مضمون) د پورتني حديث پشان.

---

[1] نووی رحمه الله وائي اسبال ښکته کول په پرتوګ او قميص او پټکي تولو کښې کيږي. او د پرتوګ ښکته کول د ګيټو نه لاندې جائز نه دي کۀ په غرور سره وي. او بغير د غرور نه مکروه دي او د ظاهر حديث نه دا معلوميږي چه حرمت خاص دے د غرور سره. ليکن ښځو لره اسبال صحيح دے او مستحب دا ده چه قميص او پرتوګ دواړه د پنډۍ د نيمے پورے وي ليکن د ګيټو پورے هم جائز دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ رَجُلًا مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ يَتَبَخْتَرُ فِي حُلَّةٍ ثُمَّ ذَكَرَ مِثْلَ حَدِيثِهِمْ

ابوهریره ﷺ وئیلی دی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی حضرت ﷺ فرمائیل چه یو سړے ستاسو نه د مخکښینی امت وو. چه په خپله جوړه کښې په تکبر تلو. مخکښې حدیث د پورتنو راویانو د حدیث پشان بیان کړو

بَاب تَحْرِيمِ خَاتَمِ الذَّهَبِ عَلَى الرِّجَالِ

باب : د سرو زرو ګوته نارینه لره اچول حرام دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ نَهَى عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ

حضرت ابوهریره ﷺ د نبی ﷺ نه حدیث بیان کړو چه حضرت ﷺ منع فرمائیلے ده د سروزرو د ګوتے نه

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ الْمُثَنّٰى قَالَ سَمِعْتُ النَّضْرَ بْنَ أَنَسٍ

د شعبه نه په دغه اسناد سره روایت دے.او د ابن مثنیٰ په حدیث کښې دی چه هغهٔ اووے. ما اوریدلی دی د نضر بن انس نه

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فِي يَدِ رَجُلٍ فَنَزَعَهُ فَطَرَحَهُ وَقَالَ يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ إِلَى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ فَيَجْعَلُهَا فِي يَدِهِ فَقِيلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْ خَاتَمَكَ انْتَفِعْ بِهِ قَالَ لَا وَاللهِ لَا آخُذُهُ أَبَدًا وَقَدْ طَرَحَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن عباس ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د سروزرو ګوته د یو سړی په لاس کښې اولیده. حضرت ﷺ ترے نه اووسته او اوئے غورځوله او اوئے فرمائیل ستاسو نه یو کس اراده کوی د جهنم د اُور د سکروټے. پس اخلی هغے لره په لاس خپل کښې هر کله چه حضرت ﷺ تشریف یوړو نو خلقو هغه سړی ته اووے ته دا خپله ګوته رااوچته کړه او نفع ترے واخله (یعنی د هغے د قیمت نه) هغهٔ اووے قسم په الله چه زهٔ هغه څهٔ له لاس نهٔ ور وړم چه هغے لره رسول الله ﷺ غورځولی وی (سبحٰن الله د صحابو تقوىٰ او اتباع داسے اوچتے درجے ته رسیدلے وه. کچرے هغه اوچته کړے وے او خرڅه کړے ئے وے نو ګناهګار نهٔ وو)

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصْطَنَعَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فَكَانَ يَجْعَلُ فَصَّهُ فِي بَاطِنِ كَفِّهِ إِذَا لَبِسَهُ فَصَنَعَ النَّاسُ ثُمَّ إِنَّهُ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَنَزَعَهُ فَقَالَ إِنِّي كُنْتُ أَلْبَسُ هٰذَا الْخَاتَمَ وَأَجْعَلُ فَصَّهُ مِنْ دَاخِلٍ فَرَمَى بِهِ ثُمَّ قَالَ وَاللهِ لَا

د عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د سروزرو یوه ګوته جوړه کړه. او د هغے غمے به حضرت ﷺ د ورغوی په طرف ساتلو هر کله چه به ئے په ګوته کښې اچوله پس یوه ورځ حضرت ﷺ په منبر کیناستو نو هغه ګوتۍ ئے اووسته او اوئے غورځوله او اوئے فرمائیل ما به دا ګوته په ګوته کوله او غمے به مے ورله د ورغوی په طرف ساتلو بیائے اوغورځوله هغے لره او اوئے فرمائیل په الله قسم

أَلْبَسُهُ أَبَدًا فَنَبَذَ النَّاسُ خَوَاتِيمَهُمْ وَلَفْظُ الْحَدِيثِ لِيَحْيَى

دے چه زۀ به دا چرته هم په ګوته کښې وانۀ چوم. دد ے په ليدو سره خلقو هم خپلې ګوتې اوغورځولې [1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيثِ فِي خَاتَمِ الذَّهَبِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ عُقْبَةَ بْنِ خَالِدٍ وَجَعَلَهُ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى

د ابن عمرؓ نه هم دغه حديث نبی ﷺ نه د سرور زرو د ګوتې په باره کښې مروی دے. او د عقبه بن خالد په حديث کښې دا زياته ده چه هغه ګوته د حضرت ﷺ په ښي لاس کښې وه.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ فِي خَاتَمِ الذَّهَبِ نَحْوَ حَدِيثِ اللَّيْثِ

ابن عمرؓ د نبی ﷺ نه د سرو زرو د ګوتې په باره کښې د ليثؒ د حديث پشان حديث روايت کړو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اتَّخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ فَكَانَ فِي يَدِهِ ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ أَبِي بَكْرٍ ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ عُمَرَ ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ عُثْمَانَ حَتَّى وَقَعَ مِنْهُ فِي بِئْرِ أَرِيسٍ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ حَتَّى وَقَعَ فِي بِئْرٍ وَلَمْ يَقُلْ مِنْهُ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د سپينو زرو يوه ګوته جوړه کړه. هغه د حضرت ﷺ په لاس کښې وه. بيا د حضرت ابوبکرؓ په لاس کښې وه. بيا د حضرت عمرؓ په لاس کښې وه. بيا د حضرت عثمانؓ په لاس کښې وه. بيا د هغوی د لاس نه د اريس په کوهي کښې اوغورځيده. د هغې ګوتې نقش دا وو "مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ" [2].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اتَّخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ ثُمَّ أَلْقَاهُ ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ وَقَالَ لَا يَنْقُشُ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِ خَاتَمِي هٰذَا وَكَانَ إِذَا لَبِسَهُ جَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ وَهُوَ الَّذِي سَقَطَ مِنْ مُعَيْقِيبٍ فِي بِئْرِ أَرِيسٍ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د سروزرو يوه ګوته جوړه کړه. بيائې هغه اوغورځوله او د سپينو زروئې جوړه کړه. په هغې باندے کنستلے وو "مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ" او اوئې فرمائيل څوک دې په خپله ګوته کښې دا نقش نۀ کنی. هر کله چه به حضرت ﷺ هغه ګوته په ګوته کوله نو د هغې غمې به ئې دننه طرفته کولو. او بيا هغه ګوته د معيقيب دلاسو نه په اريس په کوهي کښې پريوته

[1] نوویؒ وائی مسلمانانو اجماع کړے ده. چه د سروزرو ګوته د ښځو دپاره روا ده. او د سړو دپاره حرامه ده مګر د ابن حزم نه دد ے اباحت منقول دے او د ځنو په نزد مکروه ده حرام نۀ ده. او دغه دواړه مذهبونو باطل دی.

[2] د کومې ورځې نه چه دغه ګوته اوغورځيده د هغه ورځې نه يعني د هغه زمانې نه په خلافت کښې خلل پريوتۀ او فتنې شروع شوے دے نه معلومه شوه چه په ګوته باندے نقش کول صحيح دی. او په نقش کښې د الله نوم ليکل ځنو د ے ته مکروه ونيلی دی. خو دغه قول د هغوی ضعيف دے

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ وَقَالَ لِلنَّاسِ إِنِّي اتَّخَذْتُ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقَشْتُ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ فَلَا يَنْقُشْ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِهِ

د انس بن مالکؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ د سپينو زرو يوه ګوته جوړه کړه او کنستلے وو په هغے کښ · مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ · او خلقو ته ئے اوفرمائيل ما يوه ګوته جوړه کړے ده د سپينو زرو او مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ مے پکښ کنلے دے نو هيڅ يو کس دِ په خپله ګوته کښ دا (الفاظ) نه کنی.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا وَلَمْ يَذْكُرْ فِي الْحَدِيثِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ

حضرت انسؓ د نبیﷺ نه حديث روايت کړو. او په دے کښ د · محمد رسول الله · الفاظ ذکر کړے شوی نه دی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ قَالَ لَمَّا أَرَادَ رَسُولُ اللهِﷺ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الرُّومِ قَالَ قَالُوا إِنَّهُمْ لَا يَقْرَءُونَ كِتَابًا إِلَّا مَخْتُومًا قَالَ فَاتَّخَذَ رَسُولُ اللهِﷺ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ

د انس بن مالکؓ نه روايت دے هر کله چه رسول اللهﷺ د روم بادشاه ته د ليکلو اراده اوکړه. نو خلقو اووے د روم خلق بغير د مهر نه خط نه لولی. بيا رسول اللهﷺ د سپينو زرو يو مهر جوړ کړو. لکه چه زهٔ د هغے سپين والے وينم د حضرتﷺ په لاس مبارک کښ. په هغے کښ نقش وو محمد رسول الله

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الْعَجَمِ فَقِيلَ لَهُ إِنَّ الْعَجَمَ لَا يَقْبَلُونَ إِلَّا كِتَابًا عَلَيْهِ خَاتَمٌ فَاصْطَنَعَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِهِ

د حضرت انسؓ نه روايت دے چه نبیﷺ د عجم بادشاه ته ليکل غوښتل. (عجم وائی علاوه د عربو نه نورو ټولو خلقو ته) خلقو اووے د عجمو خلق هيڅ يو خط نه اخلی د کومے پورے چه په هغے باندے مهر نه وی. حضرتﷺ يو ګوته جوړه کړه د سپينو زرو لکه زهٔ چه اوس د حضرتﷺ په لاس مبارک کښ د هغے سپين والے وينمه

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى كِسْرَى وَقَيْصَرَ وَالنَّجَاشِيِّ فَقِيلَ إِنَّهُمْ لَا يَقْبَلُونَ كِتَابًا إِلَّا بِخَاتَمٍ فَصَاغَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا حَلْقَتُهُ فِضَّةٌ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ

د انسؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ کسرٰی (د ايران بادشاه) ته او قيصر (د روم بادشاه) ته او نجاشی (د حبشو بادشاه ته) ليکل اوغوښتل خلقو اووے دا بادشاهان هيڅ يو خط نه اخلی د کومے پورے چه په هغے باندے مهر نه وی آخر رسول اللهﷺ د سپينو زرو يوه ګوته جوړه کړه او په هغے کښ نقش وو محمد رسول الله

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ أَنَّهُ أَبْصَرَ فِي يَدِ رَسُولِ

د انس بن مالکؓ نه روايت دے چه هغوی د رسول اللهﷺ په لاس

اللهِ ﷺ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ يَوْمًا وَاحِدًا قَالَ فَصَنَعَ النَّاسُ الْخَوَاتِمَ مِنْ وَرِقٍ فَلَبِسُوهُ فَطَرَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَهُ فَطَرَحَ النَّاسُ خَوَاتِمَهُمْ

مبارك كښ د سپينو زرو يوه گوته اوليده يوه ورځ. نو ټولو خلقو د سپينو زرو گوتې جوړې کړې او په گوتو كښ ئې واچولې. بيا حضرت ﷺ خپله گوته اوغورځوله نو خلقو هم خپلې گوتې اوويستې او اوئې غورځولې.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ؓ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى فِي يَدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ يَوْمًا وَاحِدًا ثُمَّ إِنَّ النَّاسَ اضْطَرَبُوا الْخَوَاتِمَ مِنْ وَرِقٍ فَلَبِسُوهَا فَطَرَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَهُ فَطَرَحَ النَّاسُ خَوَاتِمَهُمْ

د انس بن مالك ؓ نه روايت دے هغوى اوليدل د رسول الله ﷺ په لاس يوه گوته د سپينو زرو يوه ورځ. بيا خلقو هم جوړې کړې د سپينو زرو گوتې. او هغوى واچولې. بيا نبى ﷺ خپله گوته اوغورځوله. خلقو هم خپلې گوتې اوغورځولې.

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د ابن جريج نه په دغه اسناد سره دغسې روايت دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ؓ قَالَ كَانَ خَاتَمُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ وَرِقٍ وَكَانَ فَصُّهُ حَبَشِيًّا

د انس بن مالك ؓ نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ گوته د سپينو زرو وه او غمے ئې حبشى وو. (يعنى د عقيق چه كان ئې په حبش او يمن كښ دے او ځنے وائى چه د حبشى نه مراد تور دے يعنى د تورو عقيقو)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ؓ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ لَبِسَ خَاتَمَ فِضَّةٍ فِي يَمِينِهِ فِيهِ فَصٌّ حَبَشِيٌّ كَانَ يَجْعَلُ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ

د انس بن مالك ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به د سپينو زرو گوته د ښى لاس په گوته كښ اچوله او د هغې غمے به حضرت ﷺ دننه ورغوى طرفته ساتلو.

عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيثِ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى

د يونس بن يزيد نه په دغه اسناد سره طلحه بن يحيىٰ د حديث پشان روايت دے.

عَنْ أَنَسٍ ؓ قَالَ كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هٰذِهِ وَأَشَارَ إِلَى الْخِنْصَرِ مِنْ يَدِهِ الْيُسْرَى

د حضرت انس ؓ نه روايت دے. د رسول الله ﷺ گوته په هغه گوته كښ وه او د گس لاس خنصرے گوتې ته ئې اشاره اوكړه (يعنى وړے گوتې ته)

عَنْ عَلِيٍّ ؓ قَالَ نَهَانِي يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَجْعَلَ خَاتَمِي فِي هٰذِهِ أَوْ

د حضرت على ؓ نه روايت دے منع کړے يم زه رسول الله ﷺ په دې گوتې او ددې د خوا په گوته باندې د گوتې اچولو نه عاصم ته (چه

الَّتِي تَلِيهَا لَمْ يَدْرِ عَاصِمٌ فِي أَيِّ الثِّنْتَيْنِ وَنَهَانِي عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَعَنْ جُلُوسٍ عَلَى الْمَيَاثِرِ قَالَ فَأَمَّا الْقَسِّيُّ فَثِيَابٌ مُضَلَّعَةٌ يُؤْتَى بِهَا مِنْ مِصْرَ وَالشَّامِ فِيهَا شِبْهُ كَذَا وَأَمَّا الْمَيَاثِرُ فَشَيْءٌ كَانَتْ تَجْعَلُهُ النِّسَاءُ لِبُعُولَتِهِنَّ عَلَى الرَّحْلِ كَالْقَطَائِفِ الْأُرْجُوَانِ

دے حدیث راوی دے یاد نه دی چه کومے دوه ګوتے ئے اوښودلے د په بل روایت کښې دی چه سبابه او وسطی ئے اوښودلے یا وسطی او د هغے د خوا والا او منع کړے ئے یم زۀ د قسي د غوستلو نه او په ریښمي زین پوشونو د کیښناستو نه هغوی وائی قسي خو هغه خانه دارے کپړے دی چه د مصر نه راځی. او د شام نه او زین پوش هغه دے چه هغه ښځے په کجاوو باندے غوړ وی د خپلو خاوندانو دپاره سرۀ خادرونه

عَنْ عَلِيٍّ فَذَكَرَ هٰذَا الْحَدِيثَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ

د حضرت علی نه روایت دے. پس راوی هم دا حدیث بیان کړو د نبی ﷺ دغسے

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ قَالَ نَهَى أَوْ نَهَانِي يَعْنِي النَّبِيَّ ﷺ فَذَكَرَ نَحْوَهُ

د ابوبرده نه روایت دے چه اوریدلی دی ما د ابوطالب نه هغوی وئیلی دی چه زۀ منع کړے یم نبی ﷺ پس د پورتنی حدیث پشان ئے بیان کړو.

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ نَهَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَخَتَّمَ فِي إِصْبَعِي هٰذِهِ أَوْ هٰذِهِ قَالَ فَأَوْمَأَ إِلَى الْوُسْطَى وَالَّتِي تَلِيهَا

د ابوبرده نه روایت دے چه حضرت علی وئیلی دی منع کړے یم زۀ رسول الله ﷺ په دے ګوته کښې یا په دے ګوته کښې د ګوتے د اچولو نه. او اشاره ئے اوکړه د مینځ د ګوتے او د هغے په خوا کښې د ګوتے په طرف. د ځکه چه دا ګوتے په هر کار کښې مخکښې وی نو په ګوتے سره ورته تکلیف وی. البته کچه ګوته خانله وی نو په هغے کښې ګوته اچول غوره دی[1]

بَابُ اسْتِحْبَابِ لُبْسِ النِّعَالِ

باب: پیزار په خپو کول مستحب دی

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي غَزْوَةٍ غَزَوْنَاهَا

د حضرت جابر نه روایت دے چه ما د یو جهاد په سفر کښې چه په هغے کښې مونږ شریك وو د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو

[1] امام نووی وئیلی دی ګوته په ښځی او ګس دواړو لاسونو کښې اچول جائز دی او په یو کښې هم کراهت نشته لیکن افضل څۀ دی په دے کښې اختلاف دے.

اسْتَكْثِرُوا مِنَ النِّعَالِ فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ رَاكِبًا مَا انْتَعَلَ

پيزار ډير په خپو کوئ ځکه چه د پيزار په خپو کولو سره بنده هميشه سور وی (يعنی د سوړو پشان خپو ته تکليف نه رسی)

بَاب اسْتِحْبَابِ لُبْسِ النَّعْلِ فِي الْيُمْنَى أَوَّلًا وَالْخَلْعِ مِنَ الْيُسْرَى أَوَّلًا وكَرَاهَةِ الْمَشْيِ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ

باب: اول ښیٔ پيزار په خپو که او اول گس اوباسه. او صرف په يو پيزار پخپو کولو سره تلل مکروه دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنَى وَإِذَا خَلَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ وَلْيُنْعِلْهُمَا جَمِيعًا أَوْ لِيَخْلَعْهُمَا جَمِيعًا

د حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی هر کله چه ستاسو نه څوك پيزار په خپو کوی نو د ښیٔ خپے نه د شروع کوی او هر کله چه ئے اوباسی نو د گسے خپے نه د شروع کوی. او پکار دی چه دواړه په خپو کوی يا دواړه اوباسی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَمْشِ أَحَدُكُمْ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ لِيُنْعِلْهُمَا جَمِيعًا أَوْ لِيَخْلَعْهُمَا جَمِيعًا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی څوك د ستاسو نه په يو پيزار په خپو نه گرځی بلکه دواړه د پخپو کوی يا د دواړه اوباسی (ورنه په خپو کښ د اوريدلو احتمال دے او بد ښکاره کيدل هم دی)

عَنْ أَبِي رَزِينٍ قَالَ خَرَجَ إِلَيْنَا أَبُو هُرَيْرَةَ فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى جَبْهَتِهِ فَقَالَ أَلَا إِنَّكُمْ تَحَدَّثُونَ أَنِّي أَكْذِبُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِتَهْتَدُوا وَأَضِلَّ أَلَا وَإِنِّي أَشْهَدُ لَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ أَحَدِكُمْ فَلَا يَمْشِ فِي الْأُخْرَى حَتَّى يُصْلِحَهَا

د ابورزين نه روايت دی چه ابوهريرهؓ زمونږ سره راغے. او خپل لاس ئے په خپل تندی باندے اووهو. بيائے اووے تاسو وايئ چه زۀ دروغ وايم په رسول اللهﷺ باندے دد ے دپاره چه تاسو هدايت اومومئ او زۀ گمراه شم. خبردار شئ زۀ گواهی ورکوم چه ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو. هر کله چه پتاسو کښ د يو تن د پيزار تسمه اوشليږی نو هغه د هغه بل پيزار هم نۀ په خپو کوی ترڅو پورے چه ئے هغه پيزار صحيح کړے نۀ وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْمَعْنٰى

ابوهريرهؓ د نبیﷺ نه د پورتنی حديث هم معنٰی حديث روايت کړو.

بَابُ النَّهْيِ عَنْ اِشْتِمَالِ الصَّمَّاءِ وَالِاحْتِبَاءِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ

باب: صرف یوه کپړه د ټول بدن نه د تاوولو او په یوه کپړه کښې د احتباء (د خپو په سر کیناستلو) نه ممانعت

عَنْ جَابِرٍؓ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَأْكُلَ الرَّجُلُ بِشِمَالِهِ أَوْ يَمْشِيَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ وَأَنْ يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ وَأَنْ يَحْتَبِيَ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ كَاشِفًا عَنْ فَرْجِهِ

د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه منع کړے ده رسول اللهﷺ په ګس لاس سره د خوړلو نه یا په یو پیزار کښې د ګرځیدلو نه یا صرف په یوه کپړه د ټول بدن پټولو نه یا په ماتو زنګونانو په یوه کپړه کښې د کیښناستلو نه چه شرمګاه ئے ښکاره وی (چه ورته احتباء وئیلے شی دا په یوه کپړه کښې منع ده د ستر ښکاره کیدو په ګډوی نو مکروه دی)

عَنْ جَابِرٍؓ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ أَحَدِكُمْ أَوْ مَنِ انْقَطَعَ شِسْعُ نَعْلِهِ فَلَا يَمْشِ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ حَتَّى يُصْلِحَ شِسْعَهُ وَلَا يَمْشِ فِي خُفٍّ وَاحِدٍ وَلَا يَأْكُلْ بِشِمَالِهِ وَلَا يَحْتَبِي بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ وَلَا يَلْتَحِفُ الصَّمَّاءَ

د حضرت جابرؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه تاسو نه د یو کس د یو پیزار تسمه اوشلیږی نو د یوے خپے په پخپو کړی پیزار د نه ګرځی ترڅو چه ئے د بلے خپے هغه تسمه برابر کړے نه وی. او یوے خپے په موزه سره د نه ګرځی. او په ګس لاس د خوراك د نه کوی. او په یوه کپړه کښې د په ماتو زنګونانو نه کیښنی. او اشتمال د صمّاء د نه کوی (ددے معنی پورته بیان شوے ده)

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ اشْتِمَالِ الصَّمَّاءِ وَالِاحْتِبَاءِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ وَأَنْ يَرْفَعَ الرَّجُلُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى وَهُوَ مُسْتَلْقٍ عَلَى ظَهْرِهِ

د جابرؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ منع کړے ده د اشتمال صمّاء نه. او په ماتو زنګونانو د کیښناستو نه په یوه کپړه کښې. او یوه خپه په بله باندے د ایخودو نه په داسے حال کښې چه په شا ملاست وی (خکه چه د ستر د ښکاره کیدو یره وی)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يُحَدِّثُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَمْشِ فِي نَعْلٍ وَاحِدٍ وَلَا تَحْتَبِ فِي إِزَارٍ وَاحِدٍ وَلَا تَأْكُلْ بِشِمَالِكَ وَلَا تَشْتَمِلِ الصَّمَّاءَ وَلَا تَضَعْ إِحْدَى

د جابرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی مه ګرځه په یو پیزار کښې په یو لنګ کښې په ماتو زنګونانو مه کیښنئ او خوراك مه کوئ په ګس لاس سره او اشتمال صمّاء مه کوئ او مه اږدئ یوه خپه په بله باندے په نیغو سملاستو کښې. (دا په داسے صورت کښې چه لنګ ئے وهلے وی خکه چه په دغه حالت کښې د

رِجلَیكَ عَلَى الأُخرَى إِذَا استَلقَیتَ

ستر ښکاره کیدو یره ده او که د ستر ښکاره کیدو یره نه وی یا ئې پاجامه اغوستې وی نو نیغ سملاستل او یوه خپه په بله باندې ایخودل صحیح دی او پخپله د حضرت ﷺ نه ثابت دی.

عَن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللهِ رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا یَستَلقِیَنَّ أَحَدُكُم ثُمَّ یَضَعُ إِحدَى رِجلَیهِ عَلَى الأُخرَى

د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هیڅ یو کس دِ ستاسو نه نیغ په نیغه نه څملی په داسې حال کښې چه یوه خپه ئې په بله ایخودې وی.

عَن عَبَّادِ بنِ تَمِیمٍ عَن عَمِّهِ رضی الله عنه أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ مُستَلقِیًا فِي المَسجِدِ وَاضِعًا إِحدَى رِجلَیهِ عَلَى الأُخرَى

عباد بن تمیم د خپل تره (عبد الله بن زید بن عاصم) نه اوریدلی دی چه هغوی رسول الله ﷺ لره په جماعت کښې په نیغو څملاستو اولیدهٔ او یوه خپه ئې په بله اچولې وه.

عَنِ الزُّهرِيِّ بِهَذَا الإِسنَادِ مِثلَهُ

د زهری نه په دغه اسناد سره د پورتنی حدیث پشان حدیث مروی دې.

بَاب نَهيِ الرَّجُلِ عَنِ التَّزَعفُرِ

باب: نارینه لره زعفران لګول یا په زعفرانو کښې رنګ شوې کپړه اغوستل منع ده

عَن أَنَسِ بنِ مَالِكٍ رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ التَّزَعفُرِ قَالَ قُتَیبَةُ قَالَ حَمَّادٌ یَعنِي لِلرِّجَالِ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده د زعفرانو لګولو نه یعنی نارینؤ لره.

عَن أَنَسٍ رضی الله عنه قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ أَن یَتَزَعفَرَ الرَّجُلُ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده د زعفرانو د لګولو نه او د زعفرانو د رنګ نه

بَابُ استِحبَابِ خِضَابِ الشَّیبِ

باب: په بوډا والی کښې په ویښتو باندې خضاب لګول مستحب دی

عَن جَابِرٍ قَالَ أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ أَو جَاءَ عَامَ الفَتحِ أَو یَومَ الفَتحِ وَرَأسُهُ وَلِحیَتُهُ مِثلُ الثَّغَامِ أَوِ الثَّغَامَةِ فَأَمَرَ أَو فَأُمِرَ بِهِ إِلَى نِسَائِهِ

د جابر رضی الله عنه نه روایت دې ابو قحافه راغې په کوم کال چه مکه فتح شوه. د هغوی سر او ږیره د ثغامه پشان سپین وو (ثغامه سپین قسم وابنهٔ دی) حضرت ﷺ د هغوی ښځو ته حکم اوکړو چه بدل کړئ دې

قَالَ غَيِّرُوا هٰذَا بِشَيْءٍ

سپين والی لره په څه شی سره.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيِّرُوا هٰذَا بِشَيْءٍ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ

جابر بن عبد الله اووے چه ابو قحافه د فتح مکے په ورځ راوستے شو په دغه حال د هغوی سر او ږیره د ثغامه پشان سپینه وه. پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل. بدل کړه دے (سپین والی) لره په څه څیز باندے البته د تورولو نه بچ شئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى لَا يَصْبُغُونَ فَخَالِفُوهُمْ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یهود او نصرٰی خضاب نۀ کوی نو تاسو د هغوی خلاف کوئ[1].

بَابُ تَحْرِيمِ تَصْوِيرِ صُورَةِ الْحَيَوَانِ

باب: د ځناورو تصویر جوړول حرام دی

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ وَاعَدَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي سَاعَةٍ يَأْتِيهِ فِيهَا فَجَاءَتْ تِلْكَ السَّاعَةُ وَلَمْ يَأْتِهِ وَفِي يَدِهِ عَصًا فَأَلْقَاهَا مِنْ يَدِهِ وَقَالَ مَا يُخْلِفُ اللهُ وَعْدَهُ وَلَا رُسُلُهُ ثُمَّ الْتَفَتَ فَإِذَا جِرْوُ كَلْبٍ تَحْتَ سَرِيرِهِ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ مَتَى دَخَلَ هٰذَا الْكَلْبُ هَاهُنَا فَقَالَتْ وَاللهِ مَا دَرَيْتُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ

د ام المؤمنین حضرت عائشے نه روایت دے چه جبرائیل د رسول الله ﷺ سره د راتلو وعده اوکړه په یو وخت کښې او بیا هغه وخت راغے او جبرائیل رانغے. دغه وخت د رسول الله ﷺ په لاس مبارك کښې یو لرګے وو. حضرت ﷺ هغه اوغورځوو. او اوئے فرمائیل چه الله تعالی د خپلے وعدے خلاف نۀ کوی او د هغه قاصد وعده خلافی کوی بیا حضرت ﷺ اخوا دیخوا اوکتل نو یو کُترے د تخت د لاندے په نظر راغے. حضرت اوفرمائیل اے عائشے! دا کُترے څۀ وخت راغلے دے دلته هغوی اووے په الله قسم دے چه زۀ ترے خبر نۀ یم بیا د

[1]: او خضاب کوئ: ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه په روز مره عادات او لباس او وضع کښې حتّی المقدور د کافرونه خلاف کول غوره دی ولے چه هر یو قوم له خپل قومی نخښه باقی ساتل او بے فائدے د بل قوم تقلید نۀ کول شرف دے. او دا زیاته د ذلت او بے غیرتئ خبره ده چه د بل قوم مقلد جوړ شی. او د رندو کنړو وضع او طریقه اختیار کړی. ددے حدیث نه رد راځی په هغه خلقو چه د نصاراؤ په تقلید او وضع کښې جائز خیال کوی.

نووی وئیلی دی ابوقحافه د ابوبکر پلار وو د هغهٔ نوم عثمان وو د فتح مکے په ورځ مسلمان شوے وو. او زمونږ مذهب دادے. چه زیړ یا سرهٔ خضاب د سړو او ښځو دپاره مستحب دی او تور خضاب حرام دی. او د بعضو په نزد د مکروه تنزیهی دی او مختار دادے چه حرام دی. او اختلاف دے د سلفو ځنے وائی د خضاب پریخودل غوره دی او د ځنو په نزد د خضاب لګول افضل دی. ابن عمر او ابوهریره نه زیړ خضاب لګول په حناء او وسمه سره او زعفرانو سره منقول دی. او یو جماعت تور خضاب هم لګولی دی. د هغوی نه دی حضرت عثمان او حضرت حسن او حسین او عقبه بن عامر او ابن سیرین او ابوبرده. (انتهی مختصراً)

فَجَاءَ جِبْرِيلُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاعَدْتَنِي فَجَلَسْتُ لَكَ فَلَمْ تَأْتِ فَقَالَ مَنَعَنِي الْكَلْبُ الَّذِي كَانَ فِي بَيْتِكَ إِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ

حضرت ﷺ په حکم هغه کتړے بهر اوویستے شو. دغه وخت حضرت جبرائیل راغے رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل تاسو ځما سره وعده کړے وه او زهٔ ستاسو په انتظار کښې ناست وم لیکن تاسو تشریف رانهٔ وړو. نو هغوی اووے داسپي چه کوم ستاسو په کور کښې وو دا زهٔ منع کړے وم. مونږ هغه کورته نهٔ ځو په کوم کور کښې چه سپے یا تصویر وی[1].

عَنْ أَبِي حَازِمٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ أَنَّ جِبْرِيلَ وَعَدَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْتِيَهُ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ وَلَمْ يُطَوِّلْهُ كَتَطْوِيلِ ابْنِ أَبِي حَازِمٍ

د ابوحازم په دغه اسناد سره روایت دے چه جبریل وعده اوکړه د رسول الله ﷺ خواله د راتلو. (مخکښې حدیث ئے بیان کړو او دومره اوږد ئے بیان نهٔ کړو ځومره چه ابوحازم بیان کړو.

عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْبَحَ يَوْمًا وَاجِمًا فَقَالَتْ مَيْمُونَةُ يَا رَسُولَ اللهِ لَقَدْ اسْتَنْكَرْتُ هَيْئَتَكَ مُنْذُ الْيَوْمِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ جِبْرِيلَ كَانَ وَعَدَنِي أَنْ يَلْقَانِي اللَّيْلَةَ فَلَمْ

د ام المؤمنین حضرت میمونهٔ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ سحر پاسیدو غلے غلے وو (لکه څنګه چه څوك په تکلیف شوے وی) ما عرض اوکړو یا رسول الله ما نن ستاسو شکل داسے اولیدو چه تر اوسه پورے مے داسے نهٔ وو لیدلے. حضرت ﷺ اوفرمائیل جبرائیل نن شپه ځما سره د میلاویدو وعده کړے وه

---

[1] نووی وئیلی دی د هر جاندار څیز تصویر جوړول حرام دی سخت او ګناه کبیره ده. برابره خبره ده کهٔ په کپړه کښې وی یا فرش کښې یا روپو اشرفو کښې یا لوښو کښې یا دیوال کښې وی. البته د اونے یا کجاوے یا د هغه څیزونو چه په هغے کښې روح نهٔ وی د هغے تصویر جوړول حرام نهٔ دی. او په کوم څیز کښې چه تصویر د جاندار څیز جوړ شوے وی کچرے هغه په دیوال باندے اولګولے شی یا په کپړه کښې واغوستے شی یا په پټکی کښې وی خو چه ذلیل نهٔ وی نو هغه حرام دی او کهٔ د ذلت په ځائے باندے وی لکه په بستره باندے چه خپے پرے ایخودے شی یا په تکیه وغیره باندے خو حرام نهٔ دی لیکن په دی کښې کلام دے چه په داسے تصویر سره هم فرښتے کورته راځی یا نهٔ راځی. او زمونږ په نز خو څهٔ فرق نشته په هغه تصویر کښې چه هغه سایه دار وی او کهٔ سایه دار نهٔ وی. او د جمهور علماؤ صحابو او تابعینو او تبع تابعینو دغه مذهب دے او دغه قول دے د ثوری او مالك او د ابوحنیفه. او ځنے سلفو وئیلی دی چه د کوم تصویر سورے نهٔ پریوځی د هغے ایخودل حرام نهٔ دی. او دغه مذهب باطل دے. ځکه چه حضرت ﷺ چه په کومه پرده خفه شوے وو په هغے باندے بے سایے تصویرونه وو. او احادیث مطلق دی په دے کښې د یو تصویر خاص کول نشته دے. او د ځنو په نز چه په کپړو باندے چه کوم نقشونه وی د تصویرونو هغه صحیح دی. او د قاسم بن محمد دغه مذهب دے. لیکن اجماع ده د هغه تصویرونو په حرمت باندے کوم چه سایه دار وی او د هغے ماتول واجب دی. قاضی عیاض وئیلی دی په دے کښې د بچو ګډیانے مستثنی دی د هغے اجازت شته دے. لیکن مالك د ګډیانو اخستل هم د خپلو بچو دپاره مکروه کړی دی. او ځنو وئیلی دی چه د لوبو د ګډیانو اجازت هم په دے حدیث سره منسوخ شوے دے. والله اعلم انتهی.

فَجَاءَ جِبْرِيلُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاعَدْتَنِي فَجَلَسْتُ لَكَ فَلَمْ تَأْتِ فَقَالَ مَنَعَنِي الْكَلْبُ الَّذِي كَانَ فِي بَيْتِكَ إِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ

حضرت ﷺ په حکم هغه کترے بهر اوویستے شو. دغه وخت حضرت جبرائیل راغے رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل تاسو خما سره وعده کړے وه او زهٔ ستاسو په انتظار کښې ناست وم لیکن تاسو تشریف رانهٔ ورو. نو هغوی اووے دا سپے چه کوم ستاسو په کور کښې وو دا زهٔ منع کړے وم. مونږ هغه کور ته نهٔ ځو په کوم کور کښې چه سپے یا تصویر وی[1].

عَنْ أَبِي حَازِمٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ أَنَّ جِبْرِيلَ وَعَدَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْتِيَهُ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ وَلَمْ يُطَوِّلْهُ كَتَطْوِيلِ ابْنِ أَبِي حَازِمٍ

د ابوحازم په دغه اسناد سره روایت دے چه جبریل وعده اوکړه د رسول الله ﷺ خواله د راتلو. (مخکښې حدیث ئے بیان کړو او دومره اوږد ئے بیان نهٔ کړو څومره چه ابوحازم بیان کړو.

عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْبَحَ يَوْمًا وَاجِمًا فَقَالَتْ مَيْمُونَةُ يَا رَسُولَ اللهِ لَقَدِ اسْتَنْكَرْتُ هَيْئَتَكَ مُنْذُ الْيَوْمِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ جِبْرِيلَ كَانَ وَعَدَنِي أَنْ يَلْقَانِي اللَّيْلَةَ فَلَمْ

د ام المؤمنین حضرت میمونهٔ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ سحر پاسیدو غلے غلے وو (لکه څنګه چه څوك په تکلیف شوے وی) ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ ما نن ستاسو شکل داسے اولیدو چه تر اوسه پورے مے داسے نه وو لیدلے. حضرت ﷺ اوفرمائیل جبرائیل نن شپه خما سره د میلاویدو وعده کړے وه

[1] نووی وئیلی دی د هر جاندار څیز تصویر جوړول حرام دی سخت او ګناه کبیره ده. برابره خبره ده کهٔ په کپړه کښې وی یا فرش کښې یا روپو اشرفو کښې یا لوښو کښې یا دیوال کښې وی.البته د اونې یا کجاوے یا د هغه څیزونو چه په هغے کښې روح نهٔ وی د هغے تصویر جوړول حرام نهٔ دی. او په کوم څیز کښې چه تصویر د جاندار څیز جوړ شوے وی کچرے هغه په دیوال باندے اولګولے شی یا په کپړه کښې واغوستے شی یا په پټکی کښې وی خو چه ذلیل نهٔ وی نو هغه حرام دی او کهٔ ذلت په ځائے باندے وی لکه په بستره باندے چه خپے پرے ایخودے شی یا په تکیه وغیره باندے خو حرام نهٔ دی لیکن په دی کښې کلام دے چه په داسے تصویر سره هم فرښتے کورته راځی یا نهٔ راځی. او زمونږ په نیز خو څهٔ فرق نشته په هغه تصویر کښې چه هغه سایه دار وی او کهٔ سایه دار نهٔ وی. او د جمهور علماؤ صحابو او تابعینو او تبع تابعینو دغه مذهب دے او دغه قول دے د ثوری او مالك او د ابوحنیفه. او ځنے سلفو وئیلی دی چه د کوم تصویر سورے نهٔ پریوځی د هغے ایخودل حرام نهٔ دی او دغه مذهب باطل دے. ځکه چه حضرت ﷺ چه په کومه پرده خفه شوے وو په هغے باندے بے سایے تصویرونه وو.او احادیث مطلق دی په دے کښې د بو تصویر خاص کول نشته دے.او د ځنو په نیز چه په کپړو باندے چه کوم نقشونه وی د تصویرونو هغه صحیح دی. او د قاسم بن محمد دغه مذهب دے. لیکن اجماع ده د هغه تصویرونو په حرمت باندے کوم چه سایه دار وی او د هغے ماتول واجب دی. قاضی عیاض وئیلی دی په دے کښې د بچو ګډیانے مستثنی دی د هغے اجازت شته دے. لیکن مالك د ګډیانو اخستل هم د خپلو بچو دپاره مکروه کړی دی. او ځنو وئیلی دی چه د لوبو د ګډیانو اجازت هم په دے حدیث سره منسوخ شوے دے. والله اعلم انتهی.

يَلْقَنِي أَمَ وَاللهِ مَا أَخْلَفَنِي قَالَ فَظَلَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَهُ ذٰلِكَ عَلٰى ذٰلِكَ ثُمَّ وَقَعَ فِي نَفْسِهِ جِرْوُ كَلْبٍ تَحْتَ فُسْطَاطٍ لَنَا فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِهِ مَاءً فَنَضَحَ مَكَانَهُ فَلَمَّا أَمْسٰى لَقِيَهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ لَهُ قَدْ كُنْتَ وَعَدْتَنِي أَنْ تَلْقَانِي الْبَارِحَةَ قَالَ أَجَلْ وَلٰكِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ فَأَصْبَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ فَأَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ حَتّٰى إِنَّهُ يَأْمُرُ بِقَتْلِ كَلْبِ الْحَائِطِ الصَّغِيرِ وَيَتْرُكُ كَلْبَ الْحَائِطِ الْكَبِيرِ

لیکن میلاو نۀ شو او په الله قسم دے چه هغوی چرته هم وعده خلافی نۀ ده کړے. میمونهؓ وائی بیا تولهورځ حضرت ﷺ دغه شان (خفه) وو. ددے نه پس د حضرت ﷺ په زړۀ کښې خیال راغے د یو سپی د بچی چه زمونږ په دیره کښې وو هغه ئے بهر اوویستو. بیا حضرت ﷺ اوبۀ واخستے او کوم ځائے چه هغه سپے ناست وو هلته ئے چړکاو کړے. هر کله چه مابنام شو نو جبرائیلؑ راغے. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل تاسو خما سره وعده کړے وه په تیره شپه د راتلو. هغوی اووے آو. لیکن مونږ هغه کور ته نۀ خو چه په هغے کښې سپے وی یا تصویر. بیا په دغه سحر رسول الله ﷺ د سپو د قتلولو حکم ورکړو. تردے پورے چه حضرت ﷺ د وړوکی باغ هغه سپے هم قتل کړو او د لوئے باغ سپے ئے ژوندے پرینښودو[1].

عَنْ أَبِي طَلْحَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ

د ابوطلحهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. فرښتے هغه کور ته نۀ ورځی په کوم کور کښې چه سپے یا تصویر وی.

عَنْ أَبِي طَلْحَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ

د ابوطلحهؓ نه روایت دے اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه حضرتؐ فرمائیل فرښتے هغه کور ته نۀ ځی چه په هغے کښې سپے یا تصویر وی.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيثِ يُونُسَ وَذِكْرِهِ الْأَخْبَارَ فِي الْإِسْنَادِ

د زهریؒ نه په دغه اسناد سره د یونس د حدیث په مثل روایت دے.

عَنْ أَبِي طَلْحَةَ صَاحِبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ

د ابوطلحهؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ صحابی وو. هغوی وائی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. فرښتے هغه کور ته نۀ ځی په کوم کور کښې د ته چه تصویر وی. بُسر وائی زید بیمار شو مونږ د هغوی

---

[1] خکه چه د لوئے باغ حفاظت بغیر د سپی نه گران دے. نوویؒ وائی کومے فرښتے چه د سپی په وجه سره کور ته نۀ ورځی هغه د رحمت او برکت فرښتے دی لیکن محافظے فرښتے خو ورسره هر وخت اوسیږی. او هر ځائے ته ورسره ځی. خکه چه هغه اعمالو لره لیکی. او خطابیؒ وئیلی دی د کوم سپی ساتل چه روا دی لکه ښکاری سپے یا د پټی سپے هغه فرښتو لره نۀ منع کوی (انتهٰی مختصراً).

صُورَةٌ قَالَ بُسْرٌ ثُمَّ اشْتَكَى زَيْدٌ بَعْدُ فَعُدْنَاهُ فَإِذَا عَلَى بَابِهِ سِتْرٌ فِيهِ صُورَةٌ قَالَ فَقُلْتُ لِعُبَيْدِ اللهِ الْخَوْلَانِيِّ رَبِيبِ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَمْ يُخْبِرْنَا زَيْدٌ عَنِ الصُّوَرِ يَوْمَ الْأَوَّلِ فَقَالَ عُبَيْدُ اللهِ أَلَمْ تَسْمَعْهُ حِينَ قَالَ إِلَّا رَقْمًا فِي ثَوْبٍ

بیمار پرسۍ له لاړو. د هغوی په دروازه باندے یوه پرده لګیدلے وه چه په هغے باندے تصویر وو. ما عبید الله خولانی ته اووے چه د مؤمنانو د مور میمونې پرکتے وو. زید پخپله مونږ ته د تصویر حدیث بیان کړے وو (او اوس ئے د تصویر پرده زوړنده کړے ده) عبید الله اووے تاسو د هغوی نه نۀ دی اوریدلی. هغوی دا هم وئیلی وو. مګر هغه تصویر چه په کپړه باندے وی.

عَنْ أَبِي طَلْحَةَ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ قَالَ بُسْرٌ فَمَرِضَ زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ فَعُدْنَاهُ فَإِذَا نَحْنُ فِي بَيْتِهِ بِسِتْرٍ فِيهِ تَصَاوِيرُ فَقُلْتُ لِعُبَيْدِ اللهِ الْخَوْلَانِيِّ أَلَمْ يُحَدِّثْنَا فِي التَّصَاوِيرِ قَالَ إِنَّهُ قَالَ إِلَّا رَقْمًا فِي ثَوْبٍ أَلَمْ تَسْمَعْهُ قُلْتُ لَا قَالَ بَلَى قَدْ ذَكَرَ ذَلِكَ

د ابوطلحهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. فرښتے هغه کور ته نۀ ځی په کوم کور کښې چه تسویر وی بُسر وائی بیا زید بن خالد بیمار شو (چه ددے حدوث راوی دے) مونږ د هغوی د تپوس دپاره د هغوی کور ته لاړو. د هغوی په کور باندے یوه پرده لګیدلے وه چه په هغے تصویر جوړ شوے وو. ما عبید الله خولانی ته اووے. چه دوی خو مونږ ته حدیث د تصویرونو په باره کښې بیان کړے وو. هغوی اووے آو. دا خوئے هم وئیلی وو تا نۀ دی اوریدلی مګر کوم تصویر چه په کپړه ویستلے شوے وی. ما اووے ما دا نۀ دی اوریدلی. هغوی اووے زید داسے وئیلی وو.

عَنْ أَبِي طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا تَمَاثِيلُ قَالَ فَأَتَيْتُ عَائِشَةَ فَقُلْتُ إِنَّ هَذَا يُخْبِرُنِي أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا تَمَاثِيلُ فَهَلْ سَمِعْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ ذَلِكَ فَقَالَتْ لَا وَلَكِنْ سَأُحَدِّثُكُمْ

د ابوطلحه انصاریؓ نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. فرښتے هغه کور ته نۀ ځی چه په کوم کور کښې سپے یا تصویرونه وی. زید وائی زۀ ددے په اوریدو سره د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ په خدمت کښې حاضر شوم. او ورته مے اووے چه ابوطلحهؓ مونږ ته دا حدیث بیان کړے دے تاسو هم د رسول اللهﷺ نه داسے اوریدلی دی هغوی اووے نه ما چه څۀ اوریدلی دی هغه تا ته بیانوم. یو خل حضرتﷺ د جهاد دپاره تشریف یوړو. نو ما یو څادر واخستو او دروازے ته مے پرده اوکړه

مَا رَأَيْتُهُ فَعَلَ رَأَيْتُهُ خَرَجَ فِي غَزَاتِهِ فَأَخَذْتُ نَمَطًا فَسَتَرْتُهُ عَلَى الْبَابِ فَلَمَّا قَدِمَ فَرَأَى النَّمَطَ عَرَفْتُ الْكَرَاهِيَةَ فِي وَجْهِهِ فَجَذَبَهُ حَتَّى هَتَكَهُ أَوْ قَطَعَهُ وَقَالَ إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَأْمُرْنَا أَنْ نَكْسُوَ الْحِجَارَةَ وَالطِّينَ قَالَتْ فَقَطَعْنَا مِنْهُ وِسَادَتَيْنِ وَحَشَوْتُهُمَا لِيفًا فَلَمْ يَعِبْ ذَلِكَ عَلَيَّ	هر كله چه رسول الله ﷺ راغی او څادر نې اوليدو. حضرت ﷺ نه بد معلوم شو. حضرت ﷺ هغې لره رابنکو ترڅو پورې چه سيرې نې کړو. او ددې نه پس نې اوفرمائيل الله تعالی مونږ ته حکم نۀ دې کړې کتې او خاورې ته د کپړو اغوستولو. حضرت عائشه ؓ فرمائي. بيا مونږ هغه څادر کټ کړو او تکيه گانې مې ترې جوړې کړې او د کهجورې د پټ مې ډکې کړې. او حضرت ﷺ په هغې باندې عيب او نۀ لګوو[1].
عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ لَنَا سِتْرٌ فِيهِ تِمْثَالُ طَائِرٍ وَكَانَ الدَّاخِلُ إِذَا دَخَلَ اسْتَقْبَلَهُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَوِّلِي هَذَا فَإِنِّي كُلَّمَا دَخَلْتُ فَرَأَيْتُهُ ذَكَرْتُ الدُّنْيَا قَالَتْ وَكَانَتْ لَنَا قَطِيفَةٌ كُنَّا نَقُولُ عَلَمُهَا حَرِيرٌ فَكُنَّا نَلْبَسُهَا	د ام المؤمنين حضرت عائشې ؓ نه روايت دې چه زمونږ سره يوه پرده وه چه په هغې د مرغۍ تصوير وو. هر کله چه به څوک دننه راتلو نو هغه تصوير به نې مخې ته شو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا اوباسئ هر کله چه زۀ دننه راشم او دې ته اوګورم. نو دنيا راته يادېږي. حضرت عائشه صديقه ؓ وائي څما سره يو څادر وو چه په هغې باندې د ريښمو (د غونۍ تصوير) وو ما به هغې لره پسررولو.
عَنِ ابْنِ أَبِي عَدِيٍّ وَعَبْدِ الْأَعْلَى بِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى وَزَادَ فِيهِ يُرِيدُ عَبْدَ الْأَعْلَى فَلَمْ يَأْمُرْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَطْعِهِ	د ابن ابی عدی او عبد الاعلی نه په دغه اسناد سره روايت دې. او ابن مثنی ونيلی دی او زياته کړې ده په دې کښې عبد الاعلی. پس نۀ دې کړې حکم مونږ ته رسول الله ﷺ ددې پرېکولو.
عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَفَرٍ وَقَدْ سَتَّرْتُ عَلَى بَابِي دُرْنُوكًا فِيهِ الْخَيْلُ ذَوَاتُ الْأَجْنِحَةِ فَأَمَرَنِي فَنَزَعْتُهُ	د ام المؤمنين حضرت عائشې ؓ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د سفر نه تشريف راوړو. ما په خپله دروازه باندې يوه نقشي پرده لګولې وه چه په هغې باندې د پروار اسونو تصويرونه جوړ شوي وو. حضرت ﷺ حکم اوکړو ما هغه لرې کړله

[1] په دغه څادر باندې د اسونو تصويرونه وو. لکه څنګه چه په بل روايت کښې دی. ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چه په ديوال باندې پرده لګول يا ټکوهل منع دي. مګر دا کراهت تنزيهي دې. تحريمي نۀ دي. او ابوالفتح وائي چه حرام دې.

عَنْ وَكِيعٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ عَبْدَةَ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ

د وکیع نه په دغه اسناد سره روایت دے. او د عبده (راوی) په حدیث کښ د سفر نه د واپسۍ ذکر نشته دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مُتَسَتِّرَةٌ بِقِرَامٍ فِيهِ صُورَةٌ فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ ثُمَّ تَنَاوَلَ السِّتْرَ فَهَتَكَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ مِنْ أَشَدِّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ يُشَبِّهُونَ بِخَلْقِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ خما خواله راغے. او ما یوه تصویر داره پرده اچولے وه. د حضرت ﷺ د مخ مبارک رنګ بدل شو او حضرت ﷺ هغه پرده واخسته او اوئے شلوله بیا ئے اوفرمائیل. د ټولو نه زیات سخت عذاب به په قیامت کښ هغه خلقو لره وی چه هغه د الله تعالی د مخلوق تصویرونه جوړوی.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا بِمِثْلِ حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ ثُمَّ أَهْوَى إِلَى الْقِرَامِ فَهَتَكَهُ بِيَدِهِ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ددوی خواته تشریف راوړو (مخکښ مضمون) د ابراهیم بن سعد د حدیث پشان دے. مګر په دے کښ دی چه بیا حضرت ﷺ پردے طرفته وربښکته شو او هغه ئے په خپل لاس اوشلوله

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمَا إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا لَمْ يَذْكُرَا مِنْ

د زهریؒ نه په دغه اسناد سره روایت دے. او په دے (اسناد د دواړو راویانو) حدیث کښ د مِنْ نه بغیر أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا راغلے دے.

عَنْ عَائِشَةَ تَقُولُ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ سَتَرْتُ سَهْوَةً لِي بِقِرَامٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ فَلَمَّا رَآهُ هَتَكَهُ وَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ وَقَالَ يَا عَائِشَةُ أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ يُضَاهُونَ بِخَلْقِ اللهِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقَطَعْنَاهُ فَجَعَلْنَا مِنْهُ وِسَادَةً أَوْ وِسَادَتَيْنِ

د ام المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ خما خواله راغے. او ما یو تاخچے لره په یوه قیمتی پرده پټه کړے وه چه په هغے تصویرونه وو. هر کله چه حضرت ﷺ دا اوولیدل نو اوئے شلوله او د حضرت ﷺ د مخ مبارک رنګ بدل شو. حضرت ﷺ اوفرمائیل اے عائشے! د هر چا نه زیات سخت عذاب به په قیامت کښ هغه خلقو ته وی څوک چه د الله تعالی د مخلوق شکل جوړوی. حضرت عائشهؓ وائی ما هغه کټ کړه یوه تکیه یا دوه تکیه ګانے مے ترے جوړے کړے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهُ كَانَ لَهَا ثَوْبٌ فِيهِ تَصَاوِيرُ مَمْدُودٌ إِلَى سَهْوَةٍ فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي إِلَيْهِ فَقَالَ أَخِّرِيهِ عَنِّي

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه د هغوی سره یوه کپړه وه چه په هغے باندے تصویرونه وو. هغه یوے تاخچے ته زوړنده وه. رسول الله ﷺ دیخوا کولو نو اوئے فرمائیل دا لرے کړئ: خما د مخے نه حضرت

قَالَتْ فَأَخَّرْتُهُ فَجَعَلْتُهُ وَسَائِدَ

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ وَقَدْ سَتَرْتُ نَمَطًا فِيهِ تَصَاوِيرُ فَنَحَّاهُ فَاتَّخَذْتُ مِنْهُ وِسَادَتَيْنِ

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا نَصَبَتْ سِتْرًا فِيهِ تَصَاوِيرُ فَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَعَهُ قَالَتْ فَقَطَعْتُهُ وِسَادَتَيْنِ فَقَالَ رَجُلٌ فِي الْمَجْلِسِ حِينَئِذٍ يُقَالُ لَهُ رَبِيعَةُ بْنُ عَطَاءٍ مَوْلَى بَنِي زُهْرَةَ أَفَمَا سَمِعْتَ أَبَا مُحَمَّدٍ يَذْكُرُ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْتَفِقُ عَلَيْهِمَا قَالَ ابْنُ الْقَاسِمِ لَا قَالَ لَكِنِّي قَدْ سَمِعْتُهُ يُرِيدُ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْ فَعَرَفْتُ أَوْ فَعُرِفَتْ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةُ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ فَمَاذَا أَذْنَبْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَالُ هٰذِهِ النُّمْرُقَةِ فَقَالَتْ اشْتَرَيْتُهَا لَكَ تَقْعُدُ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدُهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَصْحَابَ هٰذِهِ الصُّوَرِ يُعَذَّبُونَ وَيُقَالُ لَهُمْ

عائشه وائي ما هغه لرې کړه او تکيه ګانې مې ترې جوړې کړې

د شعبه نه په دغه اسناد سره روايت دے.

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روايت دے چه رسول الله ﷺ خما خواله تشريف راوړو. او ما يوه پرده لګولې وه چه په هغې کښې تصويرونه وو. حضرت ﷺ هغه راواشوکوله او ما د هغې نه دوه تکيه ګانې جوړې کړې.

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے چه هغوی يوه پرده اويزانده کړې وه چه په هغې تصويرونه وو. نو رسول الله ﷺ تشريف راوړو او هغه پرده ئې راکوزه کړه حضرت عائشه وائي ما د هغې نه دوه تکيه ګانې جوړې کړې. يو سړی په دغه مجلس کښې اوو چه نوم ئې ربيعه بن عطاء وو او د بنی زهره ازاد کړے غلام وو. آيا تا نه دی اوريدلی د ابو محمد نه هغه وئيل چه حضرت عائشه وئيلی دی چه رسول الله ﷺ به په دغه تکيه ګانو باندے آرام کولو ابن قاسم اووے نه ليکن ما د قاسم بن محمد نه اوريدلی دی.

د ام المؤمنين حضرت عائشې صديقه نه روايت دے چه هغوی يو توشک واخستو چه په هغې تصويرونه وو. هر کله چه رسول الله ﷺ هغې لره اوليدو نو حضرت ﷺ په دروازه کښې ولاړ پاتې شو او دننه لا نه رو. زۀ پوهه شوم چه د حضرت په مخ مبارك باندے خفګان دے. ما اووے يا رسول الله زۀ توبه اوباسم د الله تعالى او د هغۀ د رسول په مخکښې خما څۀ ګناه ده. حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل دا توشک څنګه دے. ما اووے دا خو ما ستاسو د کيښنلستو او تکيه لګولو دپاره اخستے دے. حضرت اوفرمائيل چا چه دا تصويرونه جوړ کړی دی هغوی به عذابيږی او هغوی ته به اووئيلے شی چه په دے

أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لَا تَدْخُلُهُ الْمَلَائِكَةُ

کښې روح واچوئ بیائې اوفرمائیل په کوم کور کښې چه تصویرونه وی هغه کورته فرښتې نهٔ راځی.

عَنْ عَائِشَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ وَبَعْضُهُمْ أَتَمُّ حَدِيثًا لَهُ مِنْ بَعْضٍ وَزَادَ فِي حَدِيثِ ابْنِ أَخِي الْمَاجِشُونِ قَالَتْ فَأَخَذْتُهُ فَجَعَلْتُهُ مِرْفَقَتَيْنِ فَكَانَ يَرْتَفِقُ بِهِمَا فِي الْبَيْتِ

د عائشې نه ددغې حدیث روایت دے او ددے حدیث د بعضو راویانو حدیث د نورو نه زیات مکمل دے. او د ابن ماجشون په حدیث کښې دا زیاته ده چه حضرت عائشې اووے چه ما د هغې پردے نه دو تکیه گانې جوړې کړے حضرت ﷺ په هغې باندے په کور کښې تکیه لګوله

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الَّذِينَ يَصْنَعُونَ الصُّوَرَ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُقَالُ لَهُمْ أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه تصویرونه جوړوی هغوی ته به په قیامت کښې عذاب وی هغوی ته به اووئیلے شی چه ژوندی ریعنی په دوی کښې روح واچوئ، کړئ هغوی لره کوم چه تاسو جوړ کړی دی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابن عمر د نبی ﷺ هغسے حدیث روایت کړو څنګه چه عبید الله د نافع نه هغوی د ابن عمر هغوی د نبی ﷺ نه حدیث روایت کړو.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ وَلَمْ يَذْكُرِ الْأَشَجُّ إِنَّ

عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د ټولو نه زیات سخت عذاب به د قیامت په ورځ تصویر جوړونکو ته وی. او اشج راوی "بیشك" نهٔ دے وئیلے

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي رِوَايَةِ يَحْيَى وَأَبِي كُرَيْبٍ عَنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ إِنَّ مِنْ أَشَدِّ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَذَابًا الْمُصَوِّرُونَ وَحَدِيثُ سُفْيَانَ كَحَدِيثِ وَكِيعٍ

د اعمش نه په دغه اسناد سره روایت دے. او یحیٰی او ابو کریب د ابومعاویه نه چه کوم روایت کړے دے په هغے کښې دی چه د قیامت په ورځ په دوزخیانو کښې د ټولو نه زیات عذاب تصویرونو جوړونکو لره به وی. او د سفیان حدیث د وکیع د حدیث پشان دے.

عَنْ مُسْلِمِ بْنِ صُبَيْحٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ مَسْرُوقٍ فِي بَيْتٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ مَرْيَمَ فَقَالَ مَسْرُوقٌ هَذَا تَمَاثِيلُ كِسْرَى فَقُلْتُ لَا

د مسلم بن صبیح نه روایت دے چه زهٔ د مسروق سره په یو کور کښې وم چه په هغے کښې تصویرونه وو. مسروق اووے دا د کسرٰی (د ایران د بادشاه) تصویرونه دی ما اووے نه دا د

هٰذَا تَمَاثِيلُ مَرْيَمَ فَقَالَ مَسْرُوقٌ أَمَا إِنِّي سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ

حضرت مريمؑ تصويرونه دي. مسروق اووے ما د عبد الله بن مسعودؓ نه اوريدلي دي هغوی ونيلي وو چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي. د هر چا نه زيات سخت عذاب به د قيامت په ورځ تصوير جوړونکو ته وی.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ إِنِّي رَجُلٌ أُصَوِّرُ هٰذِهِ الصُّوَرَ فَأَفْتِنِي فِيهَا فَقَالَ لَهُ ادْنُ مِنِّي فَدَنَا مِنْهُ ثُمَّ قَالَ ادْنُ مِنِّي فَدَنَا حَتَّى وَضَعَ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ قَالَ أُنَبِّئُكَ بِمَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُلُّ مُصَوِّرٍ فِي النَّارِ يَجْعَلُ لَهُ بِكُلِّ صُورَةٍ صَوَّرَهَا نَفْسًا فَتُعَذِّبُهُ فِي جَهَنَّمَ وَقَالَ إِنْ كُنْتَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَاصْنَعِ الشَّجَرَ وَمَا لَا نَفْسَ لَهُ فَأَقَرَّ بِهِ نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ

د سعيد بن ابی الحسن نه روايت دے چه يو سړے د عبد الله بن عباسؓ خواله راغے. او اوئے ونيل زهٔ د تصوير جوړونکے يم نو ما ته بيان کړه چه دد ے څهٔ حکم دے؟ ابن عباسؓ اووے خما خواله راشه هغه راغے. بيا هغوی اووے خواله راشه هغه ئے نور خواته راتړدےشو. ترد ے پورے چه ابن عباسؓ خپل لاس د هغه په سر باندے کيښودو او ورته ئے اووے زهٔ تا ته هغه څهٔ وايم کوم چه ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلی دی. ما اوريدلی دی د رسول اللهﷺ نه چه فرمائيلی ئے وو. هر يو تصوير جوړونکے به دوزخ ته ځی. او د هر يو تصوير په بدل به يو سړے روح والا جوړه ولے شی چه هغه به تکليف ورکوی ده ته په جهنم کښ. او ابن عباسؓ اووے کچرے ته دد ے کار نه بس کولے نهٔ شے نو د اونے يا د بل څهٔ بے روحه څيز تصوير جوړوه.

عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ فَجَعَلَ يُفْتِي وَلَا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى سَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ إِنِّي رَجُلٌ أُصَوِّرُ هٰذِهِ الصُّوَرَ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ ادْنُهْ فَدَنَا الرَّجُلُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَوَّرَ صُورَةً فِي الدُّنْيَا كُلِّفَ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ

د نضر بن انس بن مالكؓ نه روايت دے چه زهٔ د عبد الله بن عباسؓ سره ناست وم. هغوی فتوی ورکوله او حديث ئے نهٔ بيانولو. ترد ے پورے چه يو سړی تپوس اوکړو چه زهٔ مصور يم. ابن عباسؓ اووے خما خواله راشه. هغه ئے خواله راغے. ابن عباسؓ اووے ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو څوك چه په دنيا کښ د څهٔ څيز شکل جوړ کړی. هغهٔ ته به په قيامت کښ تکليف ـ يعنی هغهٔ لره به مجبوره کولے شی) ورکولے شی په هغے کښ د روح غوړخولو او هغه به روح نهٔ شی پکښ غوړخولے.

عَنِ النَّضْرِبْنِ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا أَتَى ابْنَ عَبَّاسٍ فَذَكَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

د نضر بن انس نه روایت دے چه یو سړے د ابن عباس خواله راغے. نو ابن عباس د نبی ﷺ هغه حدیث هغهٔ ته بیان کړو څنګه چه پورته بیان شو.

عَنْ أَبِي زُرْعَةَ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي دَارِ مَرْوَانَ فَرَأَى فِيهَا تَصَاوِيرَ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ خَلْقًا كَخَلْقِي فَلْيَخْلُقُوا ذَرَّةً أَوْ لِيَخْلُقُوا حَبَّةً أَوْ لِيَخْلُقُوا شَعِيرَةً

د ابوزرعه نه روایت دے چه زهٔ د ابوهریرهؓ سره د مروان کورته لاړمه هلته تصویرونه وو ابوهریرهؓ اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی فرمائی. او څوک دے زیات ظالم د هغه چا نه چه هغه څما د مخلوق پشان د جوړولو اراده اوکړی. پس جوړ دِ کړی یو میږے یا جوړه کړی یوه دانه د غنمو یا د وریشو.

عَنْ أَبِي زُرْعَةَ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَأَبُو هُرَيْرَةَ دَارًا تُبْنَى بِالْمَدِينَةِ لِسَعِيدٍ أَوْ لِمَرْوَانَ قَالَ فَرَأَى مُصَوِّرًا يُصَوِّرُ فِي الدَّارِ فَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ أَوْ لِيَخْلُقُوا شَعِيرَةً

د ابو زرعه نه روایت دے چه زهٔ او ابوهریرهؓ یو کورته لاړو چه هغه جوړیدو په مدینه کښې د سعید یا د مروان. وائی چه هلته مونږ یو مصور اولیدهٔ چه هغه په کور کښې تصویر جوړولو. ابو هریرهؓ هم دغسې اووے لکه چه پورته ذکر شو چه په دے کښې د وریشو ذکر نشته دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ تَمَاثِيلُ أَوْ تَصَاوِيرُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. فرښتے هغه کورته نهٔ ځی چه په هغے کښې بتان یا تصویرونه وی.

بَاب كَرَاهَةِ الْكَلْبِ وَالْجَرَسِ فِي السَّفَرِ

باب: په سفر کښې سپے او د ګړنګی د ساتلو کراهت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ وَلَا جَرَسٌ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی فرښتے ملګرے نهٔ وی د هغه مسافر سره د چا سره چه جرس وی یا سپے وی. (یعنی د رحمت فرښتے ولے چه د جرس آواز مکروه دے او دا نهی تنزیهی ده)

عَنْ سُهَيْلٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د سهیل نه په دغه اسناد سره روایت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ الْجَرَسُ مَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ګنګرے د شیطان باجا ده.

بَاب كَرَاهَةِ قِلَادَةِ الْوَتَرِ فِي رَقَبَةِ الْبَعِيرِ

عَنْ أَبِي بَشِيرٍ الْأَنْصَارِيِّ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ قَالَ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولًا قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ وَالنَّاسُ فِي مَبِيتِهِمْ لَا يَبْقَيَنَّ فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ أَوْ قِلَادَةٌ إِلَّا قُطِعَتْ قَالَ مَالِكٌ أُرَى ذَلِكَ مِنَ الْعَيْنِ

باب: د جئ د اوښ په غاړه کښ د اچولو ممانعت[1]

د ابو بشير انصاری نه روايت ے هغه به اکثر په سفر کښ د رسول الله ﷺ سره وو نو حضرت ﷺ په يو پيغام رسولو والاپسے اوليږو. عبد الله بن بوبكرؒ وائی خما دا خيال دے چه دغه وخت خلق د خپلو اوده کيدو په ځايونو کښ وو. او حکم ئے اوکړو چه د يو اوښ په غاړه کښ د جئ هار يا بل هار پاتے نه شی هغه کټ کړه او اونے غورځوه. امام مالكؒ وائی خما دا خيال دے چه دا هارونه ئے د نظر د نه لګيدو په خيال اچولی وو.

بَاب النَّهْيِ عَنْ ضَرْبِ الْحَيَوَانِ فِي وَجْهِهِ وَوَسْمِهِ فِيهِ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ وَعَنِ الْوَسْمِ فِي الْوَجْهِ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ بِمِثْلِهِ

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَيْهِ حِمَارٌ قَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ فَقَالَ لَعَنَ اللهُ الَّذِي وَسَمَهُ

عَنِ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ وَرَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا مَوْسُومَ الْوَجْهِ فَأَنْكَرَ ذَلِكَ قَالَ فَوَاللهِ لَا أَسِمُهُ إِلَّا فِي

باب: څناورو لره په مخ باندے د وهلو او د داغ د لګولو ممانعت

د جابرؓ نه روايت دے چه منع فرمائيلے ده رسول الله ﷺ په مخ باندے د وهلو نه او مخ باندے د داغ لګولو نه

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ د پورتنی حديث پشان

د جابرؓ نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ په مخکښ يو خر تير شو چه هغهٔ ته په مخ کښ داغ ورکړے شوے وو حضرت ﷺ اوفرمائيل لعنت د وی د الله تعالی په هغه چا باندے چا چه دهٔ لره داغلے دے

د ابن عباسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ يو خر اوليدو چه د هغهٔ په مخ باندے داغ وو حضرت هغه بد اوګڼړو او اونے فرمائيل قسم په خدائے چه زهٔ خو داغ نهٔ ورکوم مګر په هغه ځائے

---

[1] نووی وئيلی دی: د مشرکانو عادت دا وو چه د نظر نه لګيدو دپاره به ئے د جئ هار د اوښ په غاړه کښ اچولو حضرت ﷺ دا هر څه ختم کړل ددے وجے نه چه بد نظر په دے سره نهٔ شی منع کيدے اوس کچرے څوك هار د ښائست دپاره اچوی نو صحيح دے يا د حاجت دپاره د بل څه هار سوا د جئ نه

أَقْصَى شَيْءٍ مِنَ الْوَجْهِ فَأَمَرَ بِحِمَارٍ لَهُ فَكُوِيَ فِي جَاعِرَتَيْهِ فَهُوَ أَوَّلُ مَنْ كَوَى الْجَاعِرَتَيْنِ

چه د مخ نه لرے وی (لکه پته وغیره) او حکم ئے اوکړو خپل خر له د داغ ورکولو نو داغ ورکړے شو په پتو باندے او د هر چا نه مخکښ حضرت ﷺ په پتو باندے اوداغلو

بَاب جَوَازِ وَسْمِ الْحَيَوَانِ غَيْرِ الْآدَمِيِّ

باب : د بنیادم نه علاوه څناور له داغ ورکول صحیح دی

عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا وَلَدَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ قَالَتْ لِي يَا أَنَسُ انْظُرْ هٰذَا الْغُلَامَ فَلَا يُصِيبَنَّ شَيْئًا حَتَّى تَغْدُوَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَنِّكُهُ قَالَ فَغَدَوْتُ فَإِذَا هُوَ فِي الْحَائِطِ وَعَلَيْهِ خَمِيصَةٌ حُوَيْتِيَّةٌ وَهُوَ يَسِمُ الظَّهْرَ الَّذِي قَدِمَ عَلَيْهِ فِي الْفَتْحِ

د حضرت انس نه روایت دے وائی هر کله چه ام سلیم اوزیږوو اولاد نو ما ته ئے اووے اے انس! دے بچی ته ګوره چه څۀ خوراك اونۀ کړی د کومے پورے چه تا دۀ له سحر د رسول الله ﷺ خواله وړے نۀ وی او هغوی د خپلے خُلے مبارکے څۀ ژوئیلے شیز دۀ په خلۀ کښ اچولے نۀ وی انس وائی بیا زۀ سحر د حضرت ﷺ خواله لاړم حضرت ﷺ په باغ کښ وو او یوه شړۍ ئے د جونیه (چه یوه قبیله یا یو خائے دے) پسر وه او داغ ئے ورکوۀ هغه اوښانو له کوم چه په فتح کښ حضرت ﷺ له راوستے شوی وو.

عَنْ أَنَسٍ يُحَدِّثُ أَنَّ أُمَّهُ حِينَ وَلَدَتْ انْطَلَقُوا بِالصَّبِيِّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَنِّكُهُ قَالَ فَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مِرْبَدٍ يَسِمُ غَنَمًا قَالَ شُعْبَةُ وَأَكْثَرُ عِلْمِي أَنَّهُ قَالَ فِي آذَانِهَا

د انس بن مالك نه روایت دے چه د هغوی مور چه هر کله حمل اوزیږوو نو هغوی اووے دے بچی لره د رسول الله ﷺ خواله یوسه حضرت ﷺ به څۀ ژوئیلے د خپلے خُلے مبارکے دۀ په خلۀ کښ واچوی. ما اولیدل چه رسول الله ﷺ د بزو په رمه کښ وو داغونه ئے ورکول د هغوی په غوږونو کښ.

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ دَخَلْنَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِرْبَدًا وَهُوَ يَسِمُ غَنَمًا قَالَ أَحْسِبُهُ قَالَ فِي آذَانِهَا

د حضرت انس نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ خواله لاړو رمے ته حضرت ﷺ داغونه ورکول د بزو په غوږونو باندے.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د شعبه نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

[1] نووی وائی بنیادم لره داغ ورکول حرام دی او څناور لره په مخ باندے منع دی او بل ځائے مستحب دے د زکوٰة او د جزیے په څناورو باندے. او نورو څناور لره جائز دے او د ابوحنیفه په نز مکروه دی او په هغوی باندے دا احادیث حجت دی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ رَأَيْتُ فِي يَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِيسَمَ وَهُوَ يَسِمُ إِبِلَ الصَّدَقَةِ

د انس بن مالك نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ په لاس مبارك كښې د داغ اله اوليدله. حضرت ﷺ د صدقے په اوانو داغونه لګول.

بَاب كَرَاهَةِ الْقَزَعِ

باب: د قزع ممانعت[1]

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْقَزَعِ قَالَ قُلْتُ لِنَافِعٍ وَمَا الْقَزَعُ قَالَ يُحْلَقُ بَعْضُ رَأْسِ الصَّبِيِّ وَيُتْرَكُ بَعْضٌ

د عبدالله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د قزع نه. عبد الله وائی ما د نافع نه تپوس اوکړو چه قزع څۀ شے دے. هغوی اووے د بچی څۀ سر خرنیل او څۀ پریښودل.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَجَعَلَ التَّفْسِيرَ فِي حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ مِنْ قَوْلِ عُبَيْدِ اللهِ

د عبیدالله نه په دغه اسناد سره روایت دے. او د ابواسامه په حدیث کښې د قزع معنی هم د عبید الله نه منقول ده.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ مِثْلَهُ وَأَلْحَقَا التَّفْسِيرَ فِي الْحَدِيثِ

د عبید الله نه د پورتنی حدیث پشان روایت دے او دے دواړو راویانو د قزع تفسیر لره حدیث سره میلاؤ کړو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ

د ابن عمر د نبی ﷺ نه دے حدیث روایت کړے دے.

بَاب النَّهْيِ عَنِ الْجُلُوسِ فِي الطُّرُقَاتِ

باب: په لارو کښې د ناستے ممانعت

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ فِي الطُّرُقَاتِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ مَا لَنَا بُدٌّ مِنْ مَجَالِسِنَا نَتَحَدَّثُ فِيهَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ قَالُوا وَمَا

د ابو سعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بچ اوسئ تاسو په لارو کښې د ناستے نه. خلقو اووے یا رسول الله! مونږ له په خپلو مجلسونو کښې کیښناستل ضروری دی د خبرو کولو دپاره. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے تاسو نۀ منئ نو د لارے حق ادا کړئ. خلقو عرض اوکړو د لارے حق څۀ دے یا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل سترګے ښکته ساتل (

[1] نووی وائی د قزع معنی ده لږ شان سر خرنیل او لږ نه خرنیل یا خائے په خائے خرنیل او دا مکروه دی. مګر د علاج په صورت کښې روا دی او دا کراهت تنزیهی دے او خنو د ماشومانو دپاره جائز کړے دے لیکن زمونږ مذهب دا دے چه د سری او ښځے دواړو دپاره مطلقًا مکروه دے ځکه چه دا د یهودیانو خصلت دے او بد ښکاره کیدل هم دی انتهی

حَقَّهُ قَالَ غَضُّ الْبَصَرِ وَكَفُّ الْأَذَى وَرَدُّ السَّلَامِ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ

او د غیر محرم په طرف بد نظر نه کول، او په لاره کښې تکلیف نه ورکول، هیچا ته په تلو کښې، او د سلام جواب ورکول او د نیے خبرے حکم کول او د بدے خبرے نه منع کول

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د زید بن اسلم نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

بَاب تَحْرِيمِ فِعْلِ الْوَاصِلَةِ وَالْمُسْتَوْصِلَةِ وَالْوَاشِمَةِ وَالْمُسْتَوْشِمَةِ وَالنَّامِصَةِ وَالْمُتَنَمِّصَةِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ وَالْمُغَيِّرَاتِ خَلْقِ اللهِ

باب په ویختو کښې پیوند لګول او بل له لګول او خال وهونکے او لګونکے او د مخ ویختهٔ ویستل او ویستلو والا او غاښونه پراخه کول او د الله تعالی خلقت بدلول حرام دی

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي ابْنَةً عُرَيِّسًا أَصَابَتْهَا حَصْبَةٌ فَتَمَرَّقَ شَعْرُهَا أَفَأَصِلُهُ فَقَالَ لَعَنَ اللهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ

د اسماء بنت ابی بکرؓ نه روایت دے چه د رسول اللهﷺ خواله یوه ښځه راغله او عرض ئے اوکړو یا رسول اللهؐ خما لور ناوے شوے ده او د تنکو په راختو سره د هغے ویښتهٔ غورځیدلی دی. آیا زهٔ پیوند اولګوم د هغے په ویختو کښې حضرتﷺ اوفرمائیل لعنت کړے دے الله تعالی په پیوند لګونکی او پیوند لګولو والا باندے[1]

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ غَيْرَ أَنَّ وَكِيعًا وَشُعْبَةَ فِي حَدِيثِهِمَا فَتَمَرَّطَ شَعْرُهَا

هشام بن عروه په دغه اسناد سره د ابومعاویه د حدیث پشان روایت کړو مګر د وکیع او شعبه روایانو په حدیث کښې د "تمرق" په ځائے "تمرط" دے (معنی دے هم هغه ده)

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّ امْرَأَةً أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنِّي زَوَّجْتُ ابْنَتِي فَتَمَرَّقَ شَعَرُ رَأْسِهَا وَزَوْجُهَا يَسْتَحْسِنُهَا أَفَأَصِلُ يَا رَسُولَ اللهِ فَنَهَاهَا

د اسماء بنت ابی بکرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ له یوه ښځه راغله او عرض ئے اوکړو چه خما لور واده شوے ده او د هغے ویختهٔ غورځیدلی دی او د هغے خاوند ویختو لره خوښوی. یا رسول اللهؐ زهٔ د هغے په ویختو کښې جوړ اولګوم حضرتﷺ منع کړه هغے لره

---

[1] د ظاهر حدیث نه دد ے فعل حرام والے معلومیږی او دغه مختار دے او ځنے وائی جائز دے او دغه منقول دی د حضرت عائشے نه لیکن دا روایت صحیح نه دے

عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ جَارِيَةً مِنَ الْأَنْصَارِ تَزَوَّجَتْ وَأَنَّهَا مَرِضَتْ فَتَمَرَّطَ شَعَرُهَا فَأَرَادُوا أَنْ يَصِلُوهُ فَسَأَلُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَلَعَنَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ

د ام المؤمنین حضرت عائشې صدیقې رضی الله عنها نه روایت دے چه د انصارو یو جینۍ په نکاح شوه بیا هغه بیماره شوه او ویښته ئې اوغورځیدل خلقو د هغې په ویښتو کښې د جوړ لګولو اراده اوکړه نو د رسول الله ﷺ نه ئې تپوس اوکړې حضرت ﷺ لعنت اوکړو په جوړ لګونکو او لګونکې باندے.

عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ زَوَّجَتِ ابْنَةً لَهَا فَاشْتَكَتْ فَتَسَاقَطَ شَعَرُهَا فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنَّ زَوْجَهَا يُرِيدُهَا أَفَأَصِلُ شَعَرَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُعِنَ الْوَاصِلَاتُ

د حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دے چه د انصارو یوے ښځې د خپلې جینۍ نکاح اوکړه بیائې هغه (جینۍ) بیماره شوه او ویښته ئې اوغورځیدل هغه د رسول الله ﷺ خواله راغله او عرض ئې اوکړو چه د هغې خاوند د هغې په ویښتو کښې د جوړ لګولو اراده کوی آیا جوړ اولګوی د هغې په ویښتو کښې. حضرت ﷺ اوفرمائیل لعنت دی په جوړ لګونکو باندے

عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ نَافِعٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ لُعِنَ الْمُوصِلَاتُ

د ابراهیم بن نافع نه دا حدیث دے پدے سند سره او په دے کښې دا هم دی حضرت ﷺ اوفرمائیل لعنت دے په جوړ لګونکو باندے

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ الْوَاصِلَةَ وَ الْمُسْتَوْصِلَةَ وَ الْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ لعنت کړے دے په جوړ لګونکې او لګولو والا باندے او په خالونو لګونکو او لګولو والا باندے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

عبد الله د نبی ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَعَنَ اللهُ الْوَاشِمَاتِ وَ الْمُسْتَوْشِمَاتِ وَ النَّامِصَاتِ وَ الْمُتَنَمِّصَاتِ وَ الْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللهِ قَالَ فَبَلَغَ ذَلِكَ امْرَأَةً مِنْ بَنِي أَسَدٍ يُقَالُ لَهَا أُمُّ يَعْقُوبَ وَكَانَتْ

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه لعنت کړے دے الله تعالی په خالونو جوړونکو او لګونکو والا باندے. او د مخ د ویښتو د ویستونکو او ویستلو والا باندے او په غاښونو بیرته کولو والا باندے د ښائسته والی دپاره او د الله تعالی په خلقت بدلولو والا باندے. بیا دا خبر د بنی اسد قبیلې یوے ښځې ته اورسیدو چه د هغې نوم أُم یعقوب

تَقْرَأُ الْقُرْآنَ فَأَتَتْهُ فَقَالَتْ مَا حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكَ أَنَّكَ لَعَنْتَ الْوَاشِمَاتِ وَ الْمُسْتَوْشِمَاتِ وَ الْمُتَنَمِّصَاتِ وَ الْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللهِ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ وَمَا لِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي كِتَابِ اللهِ فَقَالَتِ الْمَرْأَةُ لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ لَوْحَيِ الْمُصْحَفِ فَمَا وَجَدْتُهُ فَقَالَ لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيهِ لَقَدْ وَجَدْتِيهِ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا فَقَالَتِ الْمَرْأَةُ فَإِنِّي أَرَى شَيْئًا مِنْ هٰذَا عَلَى امْرَأَتِكَ الْآنَ قَالَ اذْهَبِي فَانْظُرِي قَالَ فَدَخَلَتْ عَلَى امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ فَلَمْ تَرَ شَيْئًا فَجَاءَتْ إِلَيْهِ فَقَالَتْ مَا رَأَيْتُ شَيْئًا فَقَالَ أَمَا لَوْ كَانَ ذٰلِكَ لَمْ نُجَامِعْهَا

عَنْ مَنْصُورٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ بِمَعْنَى حَدِيثِ جَرِيرٍ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ سُفْيَانَ الْوَاشِمَاتِ وَ الْمُسْتَوْشِمَاتِ وَ فِي حَدِيثِ مُفَضَّلٍ الْوَاشِمَاتِ وَالْمَوْشُومَاتِ

عَنْ مَنْصُورٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ الْحَدِيثَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ مُجَرَّدًا عَنْ سَائِرِ الْقِصَّةِ مِنْ ذِكْرِ أُمِّ يَعْقُوبَ

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

وو او هغې به قرآن لوستلو هغه د عبد الله خواله راغله او اوئې وئيل ما ته څۀ خبر رارسيدلے دے چه تا لعنت وئيلے دے په خالونو وهونکو او لګونکو او ويستولو والا باندے. او غابنونو په بيرته کونکو او د الله تعالى په خلقت بدلونکو باندے. عبد الله اووے ءِزۀ به ولے لعنت نۀ وايم په هغه باندے په چا باندے چه رسول الله ﷺ لعنت وئيلے وی. او دا خو د الله تعالى په کتاب کښې موجود دی. هغې ښځے اووے ما خو په دوو جلدئنو کښې چه څۀ قدرے قرآن وولوستلے دے ما خو پکښې نۀ دی موندلی. عبد الله اووے. کچرے تا لوستلے (لکه څنګه چه پکار ده په غور سره) نو تا ته به ميلاؤ شوے وے. الله تعالى فرمائيلی دی. څۀ چه رسول الله ﷺ تاسو ته درکوی يعنی ښائی هغے لره خپلوئ او د کومے څ چه مو منع کوی د هغے نه ځان اوساتئ. هغې ښځے اووے په دے خبرو کښې خو څۀ خبرے ستاسو ښځے هم کوی. عبد الله اووے لاړه شه او ګوره. هغه لاړه او د هغه د ښځے سره ئے هيڅ او نۀ موندل بيا واپس راغله او اوئې وئيل په هغې کښې خو يوه خبره ما هم او نۀ مونده. عبد الله اووے کچرے هغې داسے کولے نو ما به د هغې سره صحبت نۀ کولو.

د منصور نه په دغه اسناد سره د جرير د حديث هم معنٰی حديث مروی دے. مګر د سفيان په حديث کښې الفاظ دی "الواشمات والمتوشمات" او د مفضل په حديث کښې "اَلْوَاشِمَاتِ وَالْمَوْشُوْمَاتِ" دے.

د منصور نه په دغه اسناد سره حديث مروی دے د رسول الله ﷺ نه مګر هغه د ام يعقوب د ټولے قصے نه خالی دے

عبد الله د نبی ﷺ نه د پورتنو د راويانو د حديث پشان حديث روايت کړو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ زَجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَصِلَ الْمَرْأَةُ بِرَأْسِهَا شَيْئًا

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے چه منع فرمائيلے ده رسول اللهﷺ ښځو لره په خپل سر کښې د جوړ لګولو نه

عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ عَامَ حَجَّ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَتَنَاوَلَ قُصَّةً مِنْ شَعَرٍ كَانَتْ فِي يَدِ حَرَسِيٍّ يَقُولُ يَا أَهْلَ الْمَدِينَةِ أَيْنَ عُلَمَاؤُكُمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْ مِثْلِ هٰذِهِ وَيَقُولُ إِنَّمَا هَلَكَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ حِينَ اتَّخَذَ هٰذِهِ نِسَاؤُهُمْ

د حميد بن عبد الرحمٰن بن عوف نه روايت دے هغوی اوريدلی دی د معاويه نه په کوم کال چه ئے حج اوکړو نو په منبر باندے ئے اووے. او د ويختو يوه چوټه ئے په لاس کښې واخسته چه د غلام سره وه. اے مدينے والو! ستاسو عالمان چرته دی. ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلی دی چه منع ئے فرمائيله دد ے نه (يعنی د جوړ لګولو نه) اوفرمائيل ئے وو بنی اسرائيل په دے وجه تباه شوی وو هر کله چه د هغوی ښځو دا کار شروع کړو (او په عيش عشرت او شهوت پرستئ کښې اخته شول د جنګ نه ئے زړونه په شا کړل)

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ إِنَّمَا عُذِّبَ بَنُو إِسْرَائِيلَ

د زهری نه د مالکؒ د حديث پشان روايت دے. مګر د معمر په حديث کښې دی چه بنی اسرائيل دد ے وجے عذاب کړے شو.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ قَدِمَ مُعَاوِيَةُ الْمَدِينَةَ فَخَطَبَنَا وَأَخْرَجَ كُبَّةً مِنْ شَعَرٍ فَقَالَ مَا كُنْتُ أُرَى أَنَّ أَحَدًا يَفْعَلُهُ إِلَّا الْيَهُودَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلَغَهُ فَسَمَّاهُ الزُّورَ

د سعيد بن المسيب نه روايت دے چه معاويه مدينے ته راغے. نو هغوی مونږ ته خطبه واوروله او يوه چوټه د ويختو ئے راواويسته بيائے اووے ما دا ګنړله چه دا کار به څوک نۀ کوی سوا د يهودو نه او رسول اللهﷺ ته دد ے خبر اورسيدو نو حضرتﷺ اوفرمائيل دا زُوْر دے (يعنی مکاری او دهوکه بازی)

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ مُعَاوِيَةَ قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ إِنَّكُمْ قَدْ أَحْدَثْتُمْ زِيَّ سَوْءٍ وَإِنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ نَهَى عَنِ الزُّورِ قَالَ وَجَاءَ رَجُلٌ بِعَصًا عَلَى رَأْسِهَا خِرْقَةٌ قَالَ مُعَاوِيَةُ أَلَا وَهٰذَا الزُّورُ قَالَ قَتَادَةُ يَعْنِي مَا يُكَثِّرُ بِهِ النِّسَاءُ أَشْعَارَهُنَّ مِنَ الْخِرَقِ

د سعيد بن المسيب نه روايت دے چه معاويه يوه ورځ اووے چه تاسو خلقو بده خبره راواويسته او رسول اللهﷺ منع فرمائيلے ده زُوْر نه او يو سړے راغے چه د همسا په سر باندے ئے ټوټه لګولے وه. معاويه اووے دغه زور دے. قتاده وائی مراد دادے چه ښځے به ټوټے لګوی او خپل ويختۀ به اوږده کوی.

بَاب النِّسَاءِ الْكَاسِيَاتِ الْعَارِيَاتِ الْمَائِلَاتِ الْمُمِيلَاتِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا

باب: د هغه ښځو بیان چه اغوستے به ئے وی (جامے) لیکن لغړے به وی پخپله د نیغے لارے نه اوړیدلے دی او خاوند لره کږه وندکی دی

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل د دوزخیانو دوه قسمونه دی چه هغے لره ما نۀ دی لیدلی. یو خو هغه خلق چه د هغوی سره کوړے دی د غوایانو د لکو پشان چه خلقو لره په هغے باندے وهی دویم هغه ښځے دی چه هغه د کپړو اغوستو باوجود هم لغړے وی (یعنی د ستر لائق اندامونه ئے ښکاره وی. لکه نن صبا چه د ښځو سر او ګیډه او خپے ښکاره وی یا کپړے داسے نرئ اغوندی چه په هغے کښ ئے هم بدن په نظر راځی نو لکه چه بربنډے وی) د نیغے لارے نه خطا کونکے پخپله خطا شوے. د هغوی سر بُختی (یو قسم دے د اوښ) د اوښ د کوب پشان یو طرفته کوږ شوے وی هغه به جنت ته نۀ ځی بلکه د جنت خوشبوئی به ورته هم نۀ میلاویږی. حالانکه د جنت خوشبوئی ډیره د لرے نه به راتلے شی.

بَاب النَّهْيِ عَنِ التَّزْوِيرِ فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ وَالتَّشَبُّعِ بِمَا لَمْ يُعْطَ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ أَقُولُ إِنَّ زَوْجِي أَعْطَانِي مَا لَمْ يُعْطِنِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ

باب: د فریب د جامے د اغوستلو او چه څۀ نۀ وی، د هغے د وئیلو ممانعت (چه دا ما سره شته)

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه یوے ښځی عرض اوکړو یا رسول اللهؐ زۀ (خپلے بنے) ته اووایم چه خاوند ماله هغه راکړی دی کوم چه هغه نۀ وی راکړی. حضرتﷺ اوفرمائیل څوک چه اووائی چه فلانے څیز څما سره دے (په خلقو کښ د لویئ او غرور ظاهرولو دپاره) او هغه ددۀ سره نۀ وی د هغۀ مثال داسے دے لکه څوک چه د فریب دوه کپړے واغوندی

عَنْ أَسْمَاءَ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنَّ لِي ضَرَّةً فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ أَنْ أَتَشَبَّعَ مِنْ مَالِ زَوْجِي بِمَا لَمْ يُعْطِنِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ

د اسماءؓ نه روایت دے چه یوه ښځه د رسول الله ﷺ خواله راغله او ورته ونیل خما یوه بن ده نو اے خما به ګناه کیږی کچرے زه، د هغے د زړه د سیزلو دپاره، دا اووایم چه خاوند ماله دا راکړی دی چه هغه نه وی راکړی حضرت ﷺ اوفرمائیل چا ته چه څه څیز نه وی میلاو شوے او هغه بیان اوکړی چه میلاو شوے دے، د هغے مثال داسے دے لکه چا چه د دهوکے دوه کپړے اغوستے وی، او خان ته زاهد، متقی وائی حالانکه په اصل کښں دنیا دار دهوکه باز دے. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ،

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ

د هشام نه په دغه اسناد سره روایت دے

كِتَابُ الْآدَابِ

كتاب د آدابو په بيان كښ

بَاب النَّهْيِ عَنِ التَّكَنِّي بِأَبِي الْقَاسِمِ وَبَيَانِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الْأَسْمَاءِ

باب: اَبُو القاسم كنيت د ايخودو ممانعت او د ښو نومونو بيان

عَنْ أَنَسٍ قَالَ نَادَى رَجُلٌ رَجُلًا بِالْبَقِيعِ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَمْ أَعْنِكَ إِنَّمَا دَعَوْتُ فُلَانًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَمَّوْا بِاسْمِي وَلَا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي

د انس نه روايت دے چه يو سړى بل سړى ته آواز اوكړو په بقيع كښ چه اے ابوالقاسم رسول الله ﷺ د هغهٔ په طرف اوكتل هغه سړى اووے يا رسول الله! ما تاسو ته آواز نهٔ وو كړے. بلكه فلانى سړى ته (ددهٔ كنيت به هم ابوالقاسم وى) حضرت اوفرمائيل نوم اږدى خما په نوم سره او كنيت مهٔ اږدئ خما په كنيت سره[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ أَحَبَّ أَسْمَائِكُمْ إِلَى اللهِ عَبْدُ اللهِ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ

عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. غوره نومونه ستاسو د الله په نز دادى. عبد الله او عبد الرحمٰن[2].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ وُلِدَ لِرَجُلٍ مِنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ مُحَمَّدًا فَقَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَا نَدَعُكَ تُسَمِّي بِاسْمِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقَ بِابْنِهِ حَامِلَهُ عَلَى ظَهْرِهِ فَأَتَى بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا

د جابر بن عبد الله نه روايت دے وائى چه په مونږ كښ د يو سړى هلك پيدا شو. هغوى د هغهٔ نوم محمد كيښودو. د هغه قوم هغهٔ ته اووے. مونږه تا له په دے نوم ايخودو سره نهٔ رابلو خكه چه تهٔ د رسول الله ﷺ نوم اږدے. بيا هغه سړى هغه خپل بچے په شا واخستو او د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوكړو يا رسول الله! خما دا

---

[1] نووي وائى په دى مسئله كښ د عالمانو ډير مذهبونه دى. يو خو د شافعي او اهل ظاهرو دا مذهب دے. چه ابوالقاسم كنيت ايخودل په هيڅ شان له صحيح نهٔ دى خواه كهٔ د هغهٔ نوم محمد وى يا احمد يا بل څهٔ وى. دويم دا چه ممانعت منسوخ دے او ايخودل ئے مباح دى د مالك او جمهور سلفو دغه قول دے. دريم دا چه د امممانعت د حرمت دپاره نهٔ وو. بلكه په طور د ادب اوس هم باقى دے. څلورم دا چه دا ممانعت د هغه چا دپاره دے چه د هغهٔ نوم محمد يا احمد وى. پنځم دا چه ابوالقاسم كنيت ايخودل مطلقاً منع دى او د بچى نوم قاسم ايخودل. شپږم دا چه محمد نوم ايخودل منع دى او په دے كښ يو حديث هم دے چه تاسو د بچو نوم محمد اږدئ او بيا په هغوى باندے لعنت كوئ او حضرت عمر منع فرمائيلے وه د محمد نوم ايخودلو نه (انتهٰى مختصراً)

[2] دغه شان عبد الرّحيم، عبد المالك، عبد القدوس، عبد السلام وغيره. چه په هغے سره د الله تعالى بندګى ظاهريږى او بد نومونه هغه دى چه په هغے كښ د كفر او شرك بوئ موجود وى. لكه عبد الحسين، عبد الحسن وغيره.

رَسُوْلَ اللهِ وُلِدَ لِي غُلَامٌ فَسَمَّيْتُهُ مُحَمَّدًا فَقَالَ لِي قَوْمِي لَا نَدَعُكَ تُسَمِّي بِاسْمِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَمَّوْا بِاسْمِي وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي فَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ

هلك پيدا شوے دے او ما دهٔ نوم محمد ايخودے دے. خما د قوم خلق وائي مونږ تا له دا نه پرېږدو چه تا د رسول الله ﷺ نوم ايخودے دے دے په اوريدو رسول الله ﷺ اوفرمائيل خما نوم اږدئ ليكن خما كنيت (يعني ابوالقاسم) مهٔ اږدئ خكه چه قاسم زهٔ يم تقسيموم پتاسو باندے څهٔ چه ميلاوېږي (د غنيمت مال يا زكوة دغه وجے نه د بل چا سره ابوالقاسم نوم ايخودل نه بنائي)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ وُلِدَ لِرَجُلٍ مِنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ مُحَمَّدًا فَقُلْنَا لَا نَكْنِيكَ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى نَسْتَأْمِرَهُ قَالَ فَأَتَاهُ فَقَالَ إِنَّهُ وُلِدَ لِي غُلَامٌ فَسَمَّيْتُهُ بِرَسُوْلِ اللهِ وَإِنَّ قَوْمِي أَبَوْا أَنْ يَكْنُوْنِي بِهِ حَتَّى تَسْتَأْذِنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي فَإِنَّمَا بُعِثْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ

د جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دے په مونږ كښ د يو سړي په كور كښ هلك پيدا شو هغوی د هغهٔ نوم محمد كيښودو. مونږ خلقو اووے مونږ ستا كنيت د رسول الله ﷺ د نوم سره نهٔ اږدو (يعني تا ته ابو محمد نهٔ شو وئيلے) د كومے پورے چه تاسو د هغوی نه اجازت اخستے نهٔ وی هغه سړے د حضرت ﷺ خوا له راغے او اوئے وئيل خما يو هلك پيدا شوے دے. نوما د هغهٔ نوم د الله ﷺ د رسول په نوم باندے كيښودو. خما د قوم خلق انكار كوی د دغه نوم د كنيت ما ته د راكولو نه د كومے پورے چه رسول الله ﷺ اجازت ورکړے نهٔ وی حضرت ﷺ اوفرمائيل خما په نوم باندے نوم اږدئ ليكن خما كنيت مهٔ اږدئ خكه چه زهٔ تقسيمونكے راليږلے شوے يم زهٔ تقسيموم پتاسو كښ او د خان د پاره ئے نهٔ جمع كوم.

عَنْ حُصَيْنٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ فَإِنَّمَا بُعِثْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ

د حصين نه په دغه اسناد سره روايت دے او په دے كښ دا ذكر كړے شوے نهٔ دی چه زهٔ قاسم جوړ كړے شوے راليږلے شوے يم په تاسو تقسيموم.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ تَسَمَّوْا بِاسْمِي وَلَا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي فَإِنِّي أَنَا أَبُو الْقَاسِمِ أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ وَلَا تَكْتَنُوا

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی خما نوم اږدئ ليكن خما كنيت مهٔ اږدئ. خكه چه زهٔ ابوالقاسم يم تقسيمونكے په مينځ ستاسو كښ.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ إِنَّمَا

د اعمش نه په دغه اسناد سره روايت دے په دے كښ دی

جُعِلْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ

حضرت ﷺ اوفرمائيل چه زهٔ تقسيمونكے جوړ كړے شوے يم ستاسو په مينځ كښې تقسيم كوم

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ وُلِدَ لَهُ غُلَامٌ فَأَرَادَ أَنْ يُسَمِّيَهُ مُحَمَّدًا فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ فَقَالَ أَحْسَنَتِ الْأَنْصَارُ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے چه د يو انصاری (په كور كښې) هلك پيدا شو هغه د خپل بچي نوم محمد ايخودل غوښتل هغه د رسول اللهﷺ خواله راغے او د حضرتﷺ نه ئے تپوس اوكړو حضرتﷺ اوفرمائيل انصار ښهٔ كوی چه خما په نوم باندے نوم اردی ليكن خما كنيت د نهٔ اړدی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِ مَنْ ذَكَرْنَا حَدِيثَهُمْ مِنْ قَبْلُ وَفِي حَدِيثِ النَّضْرِ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ وَزَادَ فِيهِ حُصَيْنٌ وَسُلَيْمَانُ قَالَ حُصَيْنٌ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا بُعِثْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ وَقَالَ سُلَيْمَانُ فَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ

جابر بن عبد اللهؓ د نبیﷺ نه د پورتنو حديثونو پشان روايت كړے دے او نضر (راوی) د شعبه نه كوم حديث روايت كړے دے په دے كښې دا زياته ده حصين او سليمان دواړو روايت كړے دے. د حصين په روايت كښې دا دی چه حضرتﷺ فرمائيلی دی چه زهٔ خو صرف قاسم راليږلے شوے يم په تاسو تقسيموم او د سليمان په روايت كښې دی چه حضرتﷺ فرمائيلي دی. چه زهٔ خو صرف تقسيمونكے يم، په تاسو تقسيم كوم

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ وُلِدَ لِرَجُلٍ مِنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ الْقَاسِمَ فَقُلْنَا لَا نَكْنِيكَ أَبَا الْقَاسِمِ وَلَا نُنْعِمُكَ عَيْنًا فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ أَسْمِ ابْنَكَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے په مونږ كښې د يو سړی (په كور كښې) هلك پيدا شو هغهٔ ورله نوم قاسم كيښودهٔ مونږ خلقو ورته اووے چه مونږ تا ته د ابوالقاسم كنيت نهٔ دركوو او ستا سترگے پرے نهٔ يخه وو هغه د رسول اللهﷺ خواله راغے او ورته ئے بيان اوكړو حضرتﷺ ورته اوفرمائيل ستا د خوئ نوم عبد الرحمن دے

عَنْ جَابِرٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ وَلَا نُنْعِمُكَ عَيْنًا

د جابرؓ نه د ابن عيينه د حديث پشان روايت دے مگر په دے كښې دا ذكر نهٔ دی چه مونږ به ستا سترگے يخے نهٔ كړو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَمَّوْا بِاسْمِي وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي

د حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دی خما په نوم باندے نوم اردئ او خما كنيت مهٔ اردئ

قَالَ عَمْرٌو عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَلَمْ يَقُلْ سَمِعْتُ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ لَمَّا قَدِمْتُ نَجْرَانَ سَأَلُونِي فَقَالُوا إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ يَا أُخْتَ هَارُونَ وَمُوسَى قَبْلَ عِيسَى بِكَذَا وَكَذَا فَلَمَّا قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَمُّونَ بِأَنْبِيَائِهِمْ وَالصَّالِحِينَ قَبْلَهُمْ

د مغيره بن شعبه نه روايت دے هر كله چه زۀ نجران ته راغلم نو د هغه ځائے خلقو (نصراؤ) په ما باندے اعتراض اوكړو چه تاسو (په سورة مريم) كښې لولئ يَا أُخْتَ هَارُونَ (حضرت مريم ته ئے د هارون خور وئيلې دي) حالانكه (حضرت هارون د موسیٰ رور وو او حضرت موسیٰ د حضرت عيسیٰ نه دومره موده مخكښې وو (بيا مريم د هارون خور څنګه كيدے شي) هر كله چه زۀ د رسول الله ﷺ خواله راغلم ما د حضرت نه تپوس اوكړو حضرت اوفرمائيل (دا هغه هارون چرته دے كوم چه د موسیٰ رور وو) بلكه د بني اسرائيلو عادت وو (لكه څنګه چه اوس د ټولو عادت دے) چه هغوی به د پيغمبرانو او د تير شوو نيكانو خلقو په نوم باندے نوم ايخودو.

بَابُ كَرَاهَةِ التَّسْمِيَةِ بِالْأَسْمَاءِ الْقَبِيحَةِ

باب بد نومونه ايخودل مكروه دی

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ نَهَانَا رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ نُسَمِّيَ رَقِيقَنَا بِأَرْبَعَةِ أَسْمَاءٍ أَفْلَحَ وَرَبَاحٍ وَيَسَارٍ وَنَافِعٍ

د سمره بن جندب نه روايت دے چه منع كړي يو مونږ رسول الله ﷺ په خپلو غلامانو باندے دد ے نومونو ايخودلو نه افلح او رباح او يسارا او نافع[1].

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تُسَمِّ غُلَامَكَ رَبَاحًا وَلَا يَسَارًا وَلَا أَفْلَحَ وَلَا نَافِعًا

د سمره بن جندب نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي مۀ ايږدې نوم د خپل غلام (خوی) رباح او نۀ يسار او نۀ افلح او نۀ نافع.

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الْكَلَامِ إِلَى اللهِ أَرْبَعٌ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ

د سمره بن جندب نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د هر څۀ نه زيات غوره الله تعالی ته څلور كلمے دي سُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ په دے كښې چه د كوم يو مخكښې اووے

[1] نووی وائی دا نهی چه ده تنزيهی ده نۀ تحريمی او دد ے وجې نه په دغه بل روايت كښې ذكر دي چه هر كله څوك تپوس اوكړي چه دلته افلح شته يا رباح يا يسار يا نافع او جوابا ميلاؤ شي چه نشته دے په دے كښې دد ے قسم بدفالي ده خكه چه د افلح معنی كامياب او د رباح معنی فائده مند او د يسار معنی تنګ دست او د نافع معنی فائده وركونكے دے

إِلاَّ اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ لاَ يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ وَلاَ تُسَمِّيَنَّ غُلاَمَكَ يَسَارًا وَلاَ رَبَاحًا وَلاَ نَجِيحًا وَلاَ أَفْلَحَ فَإِنَّكَ تَقُولُ أَثَمَّ هُوَ فَلاَ يَكُونُ فَيَقُولُ لاَ إِنَّمَا هُنَّ أَرْبَعٌ فَلاَ تَزِيدُنَّ عَلَيَّ

نقصان نشته. او د خپل غلام نوم يسار او رباح او نجيح او افلح مه اږدئ (دد ے هم دغه معنے دی کومے چه د افلح دی) ځکه چه ته تپوس اوکړے چه هلته هغه شته (يعنی يسار يا رباح يا نجيح يا افلح) هغه به وائی نشته دے. سمره وائی رسول الله ﷺ دغه څلور نومونه اوفرمائيل نور زيات مه نقل کوئ څما نه

عَنْ مَنْصُورٍ بِإِسْنَادِ زُهَيْرٍ فَأَمَّا حَدِيثُ جَرِيرٍ وَرَوْحٍ فَكَمِثْلِ حَدِيثِ زُهَيْرٍ بِقِصَّتِهِ وَأَمَّا حَدِيثُ شُعْبَةَ فَلَيْسَ فِيهِ إِلاَّ ذِكْرُ تَسْمِيَةِ الْغُلاَمِ وَلَمْ يَذْكُرِ الْكَلاَمَ الأَرْبَعَ

د منصور نه د زهير په اسناد سره روايت دے او د جرير او د روح حديث د پورتنی مفصل حديث پشان دے. او د شعبه په حديث کښ صرف د غلام نوم د نۀ ايخودو ذکر دے او د څلورو کلمو څۀ ذکر نشته

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْهَى عَنْ أَنْ يُسَمَّى بِيَعْلَى وَبِبَرَكَةَ وَبِأَفْلَحَ وَبِيَسَارٍ وَبِنَافِعٍ وَبِنَحْوِ ذٰلِكَ ثُمَّ رَأَيْتُهُ سَكَتَ بَعْدُ عَنْهَا فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا ثُمَّ قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَنْهَ عَنْ ذٰلِكَ ثُمَّ أَرَادَ عُمَرُ أَنْ يَنْهَى عَنْ ذٰلِكَ ثُمَّ تَرَكَهُ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ اراده اوکړه چه يعلى او برکت او افلح او يسار او نافع او دے پشان د نومونو ايخودلو نه منع اوفرمائی. بيا حضرت ﷺ چپ شو او څۀ ئے اونۀ فرمائيل. دد ے نه پس رسول الله ﷺ وفات شو او حضرت دد ے نه منع او نۀ فرمائيله. بيا حضرت عمرؓ دد ے نه منع فرمائيل غوښتل او روستو دد ے نۀ ئے پريخودو او منع ئے او نۀ فرمائيله

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَغْيِيرِ الاِسْمِ الْقَبِيحِ

باب: د بد نوم بدلول مستحب دی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيَّرَ اسْمَ عَاصِيَةَ وَقَالَ أَنْتِ جَمِيلَةُ قَالَ أَحْمَدُ مَكَانَ أَخْبَرَنِي عَنْ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ د يوے ښځے نوم بدل کړو چه د هغے نوم عاصيه وو. او ورته ئے وويل ته جميله ئے (د عاصيه معنى ده نافرمان ګنهګاره او د جميله معنى ده نيکه او خائسته)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ ابْنَةً لِعُمَرَ كَانَتْ يُقَالُ لَهَا عَاصِيَةُ فَسَمَّاهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمِيلَةَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه د حضرت عمرؓ د يوے لور نوم عايصه وو. رسول الله ﷺ د هغے نوم جميله کيخودو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَتْ جُوَيْرِيَةُ اسْمُهَا بَرَّةَ فَحَوَّلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباسؓ نه روايت دے چه د جويريه نوم مخکښ برۀ وو. رسول الله ﷺ د هغے نوم جويريه کيخودو حضرت ﷺ بد ګڼرولو

وَسَلَّمَ اسْمَهَا جُوَيْرِيَةَ وَكَانَ يَكْرَهُ أَنْ يُقَالَ خَرَجَ مِنْ عِنْدَ بَرَّةَ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ أَبِي عُمَرَ عَنْ كُرَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ

دا وئيل چه هغه د بره د خوانه اووتو لكه د نيكئ پريخودل دى او په حديث د ابن عمرؓ كښې د كريب نه روايت دے وائي چه ما اوريدلى دى دا د ابن عباسؓ نه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ زَيْنَبَ كَانَ اسْمُهَا بَرَّةَ فَقِيلَ تُزَكِّي نَفْسَهَا فَسَمَّاهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ وَلَفْظُ الْحَدِيثِ لِهَؤُلَاءِ دُونَ ابْنِ بَشَّارٍ وَقَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه د زينبؓ نوم مخكښې برّه وو خلقو به وئيل چه پخپله د خپل خان تعريف كوى بيا رسول الله ﷺ د هغې نوم زينب كيخودو.

عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ اسْمِي بَرَّةَ فَسَمَّانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ قَالَتْ وَدَخَلَتْ عَلَيْهِ زَيْنَبُ بِنْتُ جَحْشٍ وَاسْمُهَا بَرَّةُ فَسَمَّاهَا زَيْنَبَ

د زينب بنت ام سلمه نه روايت دے چه ځما نوم برّه وو. بيا رسول الله ﷺ زينب كيخودو. او زينب بنت جحش هم د رسول الله ﷺ خواله لاړه. د هغې نوم هم برّه وو. حضرت ﷺ ورله زينب كيخودو.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ قَالَ سَمَّيْتُ ابْنَتِي بَرَّةَ فَقَالَتْ لِي زَيْنَبُ بِنْتُ أَبِي سَلَمَةَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ هَذَا الِاسْمِ وَسُمِّيتُ بَرَّةَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ اللهُ أَعْلَمُ بِأَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ فَقَالُوا بِمَ نُسَمِّيهَا قَالَ سَمُّوهَا زَيْنَبَ

د محمد بن عمرو بن عطاء نه روايت دے چه ما د خپلې لور نوم بره كيښودو نو زينب بنت ابى سلمه اووے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده ددے نه او ځما نوم هم بره وو. بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه خپل صفت پخپله مۀ كوه. الله تعالى خبر دے چه نيك څوك دے په تاسو كښې. خلقو عرض اوكړو چه مونږ ځۀ نوم كيږدو دے له حضرت ﷺ اوفرمائيل زينب نوم ورله كيږدئ.

بَاب تَحْرِيمِ التَّسَمِّي بِمَلِكِ الْأَمْلَاكِ وَبِمَلِكِ الْمُلُوكِ

باب: د شهنشاه نوم د ايخودو د حرمت بيان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِنَّ أَخْنَعَ اسْمٍ عِنْدَ اللهِ رَجُلٌ تَسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ زَادَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ فِي رِوَايَتِهِ لَا مَالِكَ إِلَّا اللهُ

د حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى د ټولو نه زيات ذليل او بد نوم د الله په نز د هغه سړى دے چه هغۀ ته خلق ملك الملوك وائى. د ابن ابى

عَزَّ وَجَلَّ قَالَ الأَشْعَثِيُّ قَالَ سُفْيَانُ مِثْلُ شَاهَانْ شَاهْ وَ قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ سَأَلْتُ أَبَا عَمْرٍو عَنْ أَخْنَعَ فَقَالَ أَوْضَعَ

شيبه په روايت كښې دومره زياته ده چه څوك مالك نشته سوا د الله نه. سفيان وائي چه د ملك الملوك په شان شهنشاه هم دے[1].

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ أَغْيَظُ رَجُلٍ عَلَى اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَخْبَثُهُ وَأَغْيَظُهُ عَلَيْهِ رَجُلٍ كَانَ يُسَمّٰى مَلِكَ الأَمْلَاكِ لَا مَلِكَ إِلَّا اللّٰهُ

د همام بن منبه نه روايت دے چه دا رارسيدلي دي ما ته د ابوهريرهؓ نه چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي. د ټولو نه زياته غصه به الله تعالى د قيامت په ورځ يا د ټولو نه زيات ناپاك به د الله په نز هغه سړے وي . چا ته چه د بادشاهانو بادشاه وئيلے شي. څوك هم مالك نشته سوا د الله نه.

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَحْنِيكِ الْمَوْلُودِ وَغَيْرِهِ

باب : د بچي په خله كښې د څۀ ژوئيلي څيز وركول او د نورو څيزونو بيان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ قَالَ ذَهَبْتُ بِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ الأَنْصَارِيِّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ وُلِدَ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عَبَاءَةٍ يَهْنَأُ بَعِيرًا لَهُ فَقَالَ هَلْ مَعَكَ تَمْرٌ فَقُلْتُ نَعَمْ فَنَاوَلْتُهُ تَمَرَاتٍ فَأَلْقَاهُنَّ فِي فِيهِ فَلَاكَهُنَّ ثُمَّ فَغَرَ فَا الصَّبِيِّ فَمَجَّهُ فِي فِيهِ فَجَعَلَ الصَّبِيُّ يَتَلَمَّظُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ حُبُّ الأَنْصَارِ

د انس بن مالكؓ نه روايت دے وائي چه ما عبد الله بن ابي طلحه انصاري لره، هر كله چه هغه پيدا شو، د رسول اللهﷺ خواله يوړو حضرتؐ دغه وخت شړئ پسر كړےوه او په خپل اوښ باندے نے تيل مګل حضرتﷺ تپوس اوكړو ستاسو سره كهجوره شته ما اوے آو شته بيا ما حضرتؐ ته څو كهجورے وركړے حضرتﷺ هغه په خپله خلۀ مباركه كښې اوژوئيلے او بيائے د بچي خلۀ بيرته كړه د هغۀ په خلۀ كښې ئے اغورځولے بچي هغے لره وروله حضرتﷺ اوفرمائيل انصار په كهورو مئين دي. او د هغۀ نوم ئے عبد الله

---

[1] ملك الملوك يعني د بادشاهانو بادشاه او د شهنشاه هم دغه معني ده دا د الله صفت دے هغه شهنشاه دے باقي ټول محكوم او بندګان دي نوويؒ وائي دا نوم ايخودل حرام دي دغه شان د الله سره چه كوم نومونه خاص دي هغه ايخودل لكه رحمان. قدوس. مهيمن . خالق الخلق وغيره د اردو كتاب (مترجم وائي مهاراج هم د الله دے او د هغے معنى هم د شهنشاه ده دا هم د هيڅ يو بنده د پاره وئيل صحيح نه دي دغه شان قاضي القضاة هم

التَّمْرِ وَسَمَّاهُ عَبْدَ اللهِ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ؓ قَالَ كَانَ ابْنٌ لِأَبِي طَلْحَةَ يَشْتَكِي فَخَرَجَ أَبُو طَلْحَةَ فَقُبِضَ الصَّبِيُّ فَلَمَّا رَجَعَ أَبُو طَلْحَةَ قَالَ مَا فَعَلَ ابْنِي قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ هُوَ أَسْكَنُ مِمَّا كَانَ فَقَرَّبَتْ إِلَيْهِ الْعَشَاءَ فَتَعَشَّى ثُمَّ أَصَابَ مِنْهَا فَلَمَّا فَرَغَ قَالَتْ وَارُوا الصَّبِيَّ فَلَمَّا أَصْبَحَ أَبُو طَلْحَةَ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ أَعْرَسْتُمُ اللَّيْلَةَ قَالَ نَعَمْ قَالَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمَا فَوَلَدَتْ غُلَامًا فَقَالَ لِي أَبُو طَلْحَةَ احْمِلْهُ حَتَّى تَأْتِيَ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَعَثَتْ مَعَهُ بِتَمَرَاتٍ فَأَخَذَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَمَعَهُ شَيْءٌ قَالُوا نَعَمْ تَمَرَاتٌ فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَضَغَهَا ثُمَّ أَخَذَهَا مِنْ فِيهِ فَجَعَلَهَا فِي فِي الصَّبِيِّ ثُمَّ حَنَّكَهُ وَسَمَّاهُ عَبْدَ اللهِ

کیخودو[1].

د انس بن مالك ؓ نه روایت دے چه د ابوطلحه یو هلك بیمار وو. نو ابوطلحه بهر ته لاړو او هغه هلك مړ شو. هر کله چه هغه واپس راغے نو تپوس ئے اوکړو چه خما بچے چرته دے. ام سلیم (د هغوی بی بی او د انس ؓ مور) اووے. او د مخکښ په نسبت هغه ته آرام دے. (دا کنایه ده د مرګ سره او څۀ دروغ هم نۀ دی) بیا ام سلیم د ماښام خوراك هغوی ته راوړو. هغوی اوخوړو. د خوراك نه پس ئے د ام سلیم سره صحبت اوکړو هر کله چه فارغ شو نو ام سلیم ورته اووے. لاړ شه او هغه بچے دفن کړه. بیا سحر ابوطلحه ؓ د رسول الله ﷺ خواله راغے. او حضرت ﷺ ته ئے ټول حال بیان کړو. حضرت ﷺ تپوس اوکړو آیا تا د شپے د خپلے بی بی سره د صحبت کړے دے. ابوطلحه ؓ اووے آو. حضرت دعا اوکړه یا الله برکت ورکړے دے دواړو ته بیا د ام سلیم ؓ هلك پیدا شو. ابوطلحه ؓ ما ته اووے دا هلك واخله او د رسول الله ﷺ خواله ئے یوسه او ام سلیم د بچی سره څۀ لږے شان کهجورے هم اولیږلے. رسول الله ﷺ هغه بچے واخستلو او تپوس ئے اوکړو ددۀ سره څۀ شته خلقو اووے کهجورے دی حضرت ﷺ کهجورے واخستے او اوئے ژوئیلے او بیائے د خپلے مبارك خولے نه رااوویستے او د بچی په خلۀ کښې ئے ورکړے. او بیائے د هغۀ نوم عبد الله کیخودو[2].

---

[1] نووی وائی: دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه د بچی تحنیك (یعنی څۀ ژوئیل او د هغۀ په خله کښې غورځول) مستحب دی هر کله چه هغه پیدا شی او دا په اجماع سره سنت دی. او غوره دا ده چه څوك نیك بنده کۀ سړے وی یا ښځه تحنیك اوکړی. او دا هم معلومه شوه چه د آثارِ صالحین نه او د هغوی د لاړو نه او د هر یو څیز نه برکت حاصلول پکار دی. او په کهجورے سره تحنیك افضل دے دغه شان عبد الله نوم ایخودل انتهی مختصراً.

[2] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه ام سلیم ډیره هوښیاره او صابره وه. هغوی خپل خاوند ته د بچی د مخکښې نه خبر ورنۀ کړو. په دے خیال سره چه هغه به طعام اونۀ خوری او ټوله شپه به په غم کښې وی او د حضرت ﷺ دُعا د هغوی دواړو په حق کښې قبوله شوه او د هغۀ نه بهتر ورته الله تعالی بل هلك ورکړو نووی ؒ وائی د هغه عبد الله په اولاد کښې اسحاق پیدا شو او د هغۀ نهه تنه روڼړه او ټول نه ټول

عَنْ أَنَسٍ بِهٰذِهِ الْقِصَّةِ نَحْوَ حَدِيْثِ يَزِيْدَ

د انس نه دغه قصه د يزيد (راوي) د حديث پشان روايت كړے شوه ده.

عَنْ أَبِي مُوسٰى قَالَ وُلِدَ لِي غُلَامٌ فَأَتَيْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمَّاهُ إِبْرَاهِيمَ وَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ

د ابوموسىٰ نه روايت دے چه خما يو هلك پيدا شو ما هغه رواخستو او د رسول الله ﷺ خواله مے راورو. حضرت ﷺ د هغهٔ نوم ابراهيم كيخودو او يوه كهجوره ئے اوژوئيله او په خله كښې ئے ورته وركړه.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ وَفَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّهُمَا قَالَا خَرَجَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ حِينَ هَاجَرَتْ وَهِيَ حُبْلٰى بِعَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ فَقَدِمَتْ قُبَاءَ فَنُفِسَتْ بِعَبْدِ اللهِ بِقُبَاءٍ ثُمَّ خَرَجَتْ حِينَ نُفِسَتْ إِلٰى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُحَنِّكَهُ فَأَخَذَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا فَوَضَعَهُ فِي حَجْرِهِ ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَكَثْنَا سَاعَةً نَلْتَمِسُهَا قَبْلَ أَنْ نَجِدَهَا فَمَضَغَهَا ثُمَّ بَصَقَهَا فِي فِيهِ فَإِنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ دَخَلَ بَطْنَهُ لَرِيقُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَتْ أَسْمَاءُ ثُمَّ مَسَحَهُ وَصَلَّى عَلَيْهِ وَسَمَّاهُ عَبْدَ اللهِ ثُمَّ جَاءَ وَهُوَ ابْنُ سَبْعِ سِنِينَ أَوْ ثَمَانٍ لِيُبَايِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَهُ بِذٰلِكَ الزُّبَيْرُ

د عروه بن زبير او فاطمه بنت منذر نه روايت دے دواړه وائي چه اسماء بنت ابى بكر (د حضرت زبير بى بى) چه هر كله د هجرت دپاره اووته نو عبد الله بن زبير د هغې په كيډه وو. هغه قبا ته راغله (چه د مدينې منورے نه د يو ميل په فاصله لرے دے) هلته ئے عبد الله اوزيږو. بيائے هغه راواخستو او د رسول الله ﷺ خواله راغله د دے دپاره چه حضرت ﷺ هغهٔ ته تحنيك اوكړى (تحنيك څهٔ ژوئيلو او د ماشوم په خلهٔ كښې وركولو ته وائي) حضرت ﷺ عبد الله د اسماء نه واخستو او په خپله غيږه كښې ئے كيخودو. بيائے كهجوره اوغوښته. حضرت عائشهٔ وائي مونږ د يوے گهنټے پورے كهورے اولټولے. آخر حضرت ﷺ كهجوره اوژوئيله او د عبد الله په خلهٔ كښې ئے وركړه. نو د هر څهٔ نه مخكښې چه د عبد الله گيډے ته لاړے هغه د رسول الله ﷺ لاړے مباركے وے. اسماء وائي بيا حضرت ﷺ په عبد الله باندے لاس راښكودو او د هغوى دپاره ئے دُعا اوكړه. او د هغهٔ نوم ئے عبد الله كيخودو. هر كله چه هغه د اوو يا اتو كالو شو نو د زبير په اشاره سره هغه راغے. د رسول الله ﷺ نه د

علماء او صالحين وو اردو كتاب والامترجم وائي چه دد ے قسم واقعه خاص خما په سر تيره شوے ده مخكښې خما يو بچے وو چه اشرف ئے نوم وو هر كله چه زهٔ په دويم خل ١٤٢٢ھ مقدس كښې مكے معظمے ته لاړمه. نو هغه هلك په وبا پيچس او بخار په مكه كښې اوغورځيدو او څهٔ وخت چه د هغهٔ انتقال اوشو. زهٔ د تفسير معالم التنزيل په مطالع كښې مصروف وم. د هغهٔ د انتقال نه پس مے صبر اوكړو او د الله تعالىٰ نه مے دعا اوكړه. حق تعالىٰ د هغهٔ نه بهتر درے هلكان مونږ ته راكړه چه نومونه ئے دا دى. اشرف ، احسن، محسن حق تعالىٰ د ددوى په عمر كښې بركت كړى او هغوى د باعمله عالمان كړى. آمين يا رب العالمين

فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ رَآهُ مُقْبِلًا إِلَيْهِ ثُمَّ بَايَعَهُ

بيعت دپاره حضرت ﷺ چه هر كله هغه راغلے اوليدو نو مسکے شو. بيائے هغوی ته بيعت اوکړو (د برکت دپاره خکه چه هغه ماشوم وو)

عَنْ أَسْمَاءَ أَنَّهَا حَمَلَتْ بِعَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ بِمَكَّةَ قَالَتْ فَخَرَجْتُ وَأَنَا مُتِمٌّ فَأَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَنَزَلْتُ بِقُبَاءٍ فَوَلَدْتُهُ بِقُبَاءٍ ثُمَّ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَهُ فِي حَجْرِهِ ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ فَمَضَغَهَا ثُمَّ تَفَلَ فِي فِيهِ فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ دَخَلَ جَوْفَهُ رِيقُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ حَنَّكَهُ بِالتَّمْرَةِ ثُمَّ دَعَا لَهُ وَبَرَّكَ عَلَيْهِ وَكَانَ أَوَّلَ مَوْلُودٍ وُلِدَ فِي الْإِسْلَامِ

د اسماء بنت ابی بکرؓ نه روايت دے چه زۀ حامله وم په مکه معظمه کښې او عبد الله بن زبيرؓ خما په گيډه وو. هر كله چه زۀ د مکے نه راااووتم نو د حمل موده پوره شوے وه. بيا زۀ مدينے ته راغلم او په قباء کښې کوزه شوم. هلته عبد الله پيدا شو. بيا زۀ د رسول الله ﷺ خواله راغلم حضرت ﷺ عبد الله لره پخپله غيږه کښې واچوله بيا ئے يوه کهجوره اوغوښته او هغه ئے اوژوئيله او د عبد الله په خُلۀ کښې ئے ورکړه نو د هر څۀ نه مخکښې چه د عبد الله گيډے ته لاړے هغه د رسول الله ﷺ لاړے وے. بيائے د هغوی دپاره د برکت دُعا اوکړه. او عبد الله رومبے بچے وو چه د اسلام په زمانه کښې پيدا شو (يعنی د هجرت نه پس ورنه د هجرت نه مخکښې خو نعمان بن بشير پيدا شوے وو)

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهَا هَاجَرَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ حُبْلَى بِعَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ

اسماءؓ د ابوبکرؓ د لور نه روايت دے چه هغوی هجرت اوکړو رسول الله ﷺ طرف ته هر کله چه هغه حامله وه په عبد الله بن زبيرؓ باندے. بيا (راوی) ذکر کړو مخکښې حديث د ابو اسامه د حديث پشان.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتَى بِالصِّبْيَانِ فَيُبَرِّكُ عَلَيْهِمْ وَيُحَنِّكُهُمْ

د ام المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ له به بچی راوړلے شو. حضرت به ورته د برکت دُعا کوله او د هغوی دپاره به ئے تحنيك كولو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جِئْنَا بِعَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَنِّكُهُ فَطَلَبْنَا تَمْرَةً فَعَزَّ عَلَيْنَا طَلَبُهَا

د ام المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه مونږ عبد الله بن زبيرؓ لره د رسول الله ﷺ خواله راوړو د تحنيك كولو دپاره. پس مونږ يوه کهجوره لټوله خو د هغے ميلاويدل مشکل شو.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ أُتِيَ بِالْمُنْذِرِ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ

د سهل بن سعدؓ نه روايت دے منذر د ابو أسيد خوئ چه هر کله پيدا شو نو هغه د رسول الله ﷺ خواله راوړے شو. حضرتؐ هغۀ لره

وُلِدَ فَوَضَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَخِذِهِ وَأَبُو أُسَيْدٍ جَالِسٌ فَلَهِيَ النَّبِيُّ ﷺ بِشَيْءٍ بَيْنَ يَدَيْهِ فَأَمَرَ أَبُو أُسَيْدٍ بِابْنِهِ فَاحْتُمِلَ مِنْ عَلَى فَخِذِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَأَقْلَبُوهُ فَاسْتَفَاقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيْنَ الصَّبِيُّ فَقَالَ أَبُو أُسَيْدٍ أَقْلَبْنَاهُ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ مَا اسْمُهُ قَالَ فُلَانٌ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ لَا وَلَكِنِ اسْمُهُ الْمُنْذِرُ فَسَمَّاهُ يَوْمَئِذٍ الْمُنْذِرَ

پخپل ورون باندے کیښودو او ابواسید (د هغهٔ پلار) ناست وو. بیا حضرت ﷺ په څهٔ څیز کښې خپلے مخے ته متوجه شو. ابوأسید حکم اوکړو او بچے د حضرت ﷺ د ورون نه اوچت کړے شو. ناڅاپه د حضرت ﷺ خیال شو او اوئے فرمائیل هغه بچے کوم خائے دے ابوأسید اووے یا رسول الله! مونږ هغهٔ لره اوچت کړے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل ددهٔ نوم څهٔ دے. ابوأسید اووے فلانکے د! نوم دے حضرت ﷺ اوفرمائیل نه ددهٔ نوم منذر دے بیا د هغے ورځے نه هغوی د هغه نوم منذر کیخودو.

بَابُ جَوَازِ تَكْنِيَةِ مَنْ لَمْ يُولَدْ لَهُ وَ تَكْنِيَةِ الصَّغِيرِ

باب : د چا چه بچے نهٔ وی شوے هغهٔ لره او کم عمری لره کنیت ایخودل صحیح دی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا وَكَانَ لِي أَخٌ يُقَالُ لَهُ أَبُو عُمَيْرٍ قَالَ أَحْسِبُهُ قَالَ كَانَ فَطِيمًا قَالَ فَكَانَ إِذَا جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَآهُ قَالَ أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ قَالَ فَكَانَ يَلْعَبُ بِهِ

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د ټولو نه زیات خوش مزاجه وو. خما یو رور وو چه هغهٔ ته به ئے ابوعمیر ونیلو (دے نه معلومه شوه چه کم عمره لره او د چا چه بچی نهٔ وی شوی هغهٔ لره کنیت ایخودل صحیح دی) انس وائی خما خیال دے چه هغه دپیو ورکولو نه پرے کړے شوے وو. نوهر کله چه به رسول الله ﷺ ته راتلو او هغه به ئے لیدو نو فرمائیل به ئے: اے اباعمیر نغیر چرته دے (نغیر سره مرغئ (د چرچنړے په مقدار ده) ته ونیلے شی) او هغه هلك به د سرے مرغئ سره لوبے کولے.

بَابُ جَوَازِ قَوْلِهِ لِغَيْرِ ابْنِهِ يَا بُنَيَّ وَ اسْتِحْبَابِهِ لِلْمُلَاطَفَةِ

باب : د بل چا خوئ ته خوئے وئیل جائز دی. او د دے کلمے لره د مهربانئ په طور باندے وئیل مستحب دی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ يَا بُنَيَّ

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائیل اے خما وروکی بچیه

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ مَا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدٌ عَنِ الدَّجَّالِ أَكْثَرَ مِمَّا سَأَلْتُهُ عَنْهُ فَقَالَ لِي أَيْ بُنَيَّ وَمَا يُنْصِبُكَ مِنْهُ إِنَّهُ لَنْ يَضُرَّكَ قَالَ قُلْتُ إِنَّهُمْ يَزْعُمُونَ أَنَّ مَعَهُ أَنْهَارَ الْمَاءِ وَجِبَالَ الْخُبْزِ قَالَ هُوَ أَهْوَنُ عَلَى اللَّهِ مِنْ ذَلِكَ

د مغيره بن شعبه نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ نه د دجال په باره کښې چا دومره تپوس نۀ دے کړے څومره چه ترے ما کړے دے. آخر حضرت ﷺ اوفرمائیل خویه! ته ولې په دے غم کښې يې هغه به تاته تکليف نۀ درکوی. ما عرض اوکړو چه خلق وائي چه د هغۀ سره به د اوبو نهرونه او د ډوډئ غرونه وی. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل هغه به په دغه سبب د الله په نز ذليله دی[1].

عَنْ إِسْمَعِيلَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ أَحَدٍ مِنْهُمْ قَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُغِيرَةِ أَيْ بُنَيَّ إِلَّا فِي حَدِيثِ يَزِيدَ وَحْدَهُ

د اسماعيل نه په دغه اسناد سره روايت دے. او د دے روايت هيڅ يو راوی سوا د يزيد نه د نبی ﷺ د مغيره په باره کښې دا قول بيان کړے نۀ دے چه اے خما وروکی بچيه

بَابُ الِاسْتِئْذَانِ

باب: د اذن د غوښتلو (د اجازت د غستو) په بيان کښې

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يَقُولُ كُنْتُ جَالِسًا بِالْمَدِينَةِ فِي مَجْلِسِ الْأَنْصَارِ فَأَتَانَا أَبُو مُوسَى فَزِعًا أَوْ مَذْعُورًا قُلْنَا مَا شَأْنُكَ قَالَ إِنَّ عُمَرَ أَرْسَلَ إِلَيَّ أَنْ آتِيَهُ فَأَتَيْتُ بَابَهُ فَسَلَّمْتُ ثَلَاثًا فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ فَرَجَعْتُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَأْتِيَنَا فَقُلْتُ إِنِّي أَتَيْتُكَ فَسَلَّمْتُ عَلَى بَابِكَ ثَلَاثًا فَلَمْ يَرُدُّوا عَلَيَّ فَرَجَعْتُ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدُكُمْ ثَلَاثًا فَلَمْ يُؤْذَنْ لَهُ فَلْيَرْجِعْ فَقَالَ عُمَرُ أَقِمْ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ وَإِلَّا

د ابوسعيد خدری رض نه روايت دے چه زۀ د مدينے په مسجد کښې د انصارو په مجلس کښې ناست وم چه په دے کښې ابوموسیٰ اشعری رض يريدلے راغے. مونږ ترے تپوس اوکړو څۀ شوی دی تالره. هغوی اووے حضرت عمر په ما پسے بلنه رااوليږله هر کله چه زۀ د هغوی دروازے له لاړم. نو درے ځله سلام مے اوکړو هغوی جواب رانۀ کړو. زۀ واپس راغلم. بيا هغوی اووے ته خما کور خواله ولے رانغلے ما اووے زۀ درغلے وم. او ستاسو په دروازه کښې مے درے ځله سلام اوکړو او تاسو جواب رانۀ کړو. آخر واپس راغلم. او رسول الله ﷺ فرمائيلي دی هر کله چه په تاسو کښې يو کس درے ځله اذن اوغواړی. او څۀ اذن ورته اونشی (د ننه تلو) نو واپس د لاړ شی. حضرت عمر رض اووے په دے حديث باندے ګواه راوله ورنه زۀ تا ته

---

[1] يعنی د دے خبرو په وجه سره کوم چه مؤمنان دی هغه به هيڅ کله نه وی بلکه د الله تعالی په فضل وکرم سره به د مومنانو ايمان زياتيږی او کافران او منافق خلق به تباه کيږی

أَوْجَعْتُكَ فَقَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ لَا يَقُومُ مَعَهُ إِلَّا أَصْغَرُ الْقَوْمِ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ قُلْتُ أَنَا أَصْغَرُ الْقَوْمِ قَالَ فَاذْهَبْ بِهِ

عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُصَيْفَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ فِي حَدِيثِهِ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ فَقُمْتُ مَعَهُ فَذَهَبْتُ إِلَى عُمَرَ فَشَهِدْتُ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يَقُولُ كُنَّا فِي مَجْلِسٍ عِنْدَ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ فَأَتَى أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ مُغْضَبًا حَتَّى وَقَفَ فَقَالَ أَنْشُدُكُمُ اللَّهَ هَلْ سَمِعَ أَحَدٌ مِنْكُمْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْإِسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ فَإِنْ أُذِنَ لَكَ وَإِلَّا فَارْجِعْ قَالَ أُبَيٌّ وَمَا ذَاكَ قَالَ اسْتَأْذَنْتُ عَلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَمْسِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي فَرَجَعْتُ ثُمَّ جِئْتُهُ الْيَوْمَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ فَأَخْبَرْتُهُ أَنِّي

سزا درکوم. أُبَيُّ بن كعب اووے د ابو موسیٰ سره دِ هغه سړے لاړ شي چه په مونږ تولو کښې وروکے وی. ابوسعید اووے زهٔ د تولو نه وروکے یم أُبَيُّ بن كعب اووے بنهٔ ده تهٔ لاړ شه ددوی سره[1]

د یزید بن ابی خصیفه نه په دغه اسناد سره روایت دے. او ابن ابی عمر (راوی) دا زیاته بیان کړے ده چه ابوسعید وئیلی دی زهٔ د ابوموسیٰ سره پاخیدم او د حضرت عمرؓ خواله لاړم او گواهی مے ورکړه.

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه مونږ د ابیؓ بن کعبؓ په مجلس کښې ناست وو چه په دی کښې ابوموسیٰ اشعریؓ په غصه کښې راغے. او اودریدو اوئے وئیل: زهٔ تاسو له په الله قسم درکوم. چه پتاسو کښې چا اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه چه فرمائیلی ئې وو درے ځله اجازت غوښتل دی بیا کهٔ چرے اجازت درنه میلاؤ شي خو بنه ده گني واپس لاړ شه. أُبیؓ اووے. تهٔ ولے تپوس کوے دے لره. هغوی اووے ما پرون د حضرت عمرؓ په کور باندے درے ځله اجازت اوغوښتو ما ته اجازت رانهٔ کړے شو نو زهٔ واپس راغلم. نن بیا زهٔ د هغهٔ خواله لاړم او ما اووے. پرون

---

[1] : نوویؒ وائی علماء اجماع کړے ده چه اجازت اخستل مشروع دی. او سنت داده چه درے ځله د بهر نه سلام اوکړی او هر ځل اجازت اوغواړی ددننه راتلو. او مخکښې به د سلام لفظ وائی بیا به اجازت غواړی مثلاً داسے اووائی السلام علیکم أَأَدْخُلُ یا یَدْخُلُ فُلَان. اوس کچرے د درے ځله نه پس هم اجازت میلاؤ نهٔ شی نو واپس دِ لاړ شی. یا دِ بیا اجازت اوغواړی (انتهٰی مختصراً)

نوویؒ وئیلی دی چه د أُبَیُّ بن کعبؓ ددے وئیلو نه غرض دا وو چه حضرت عمرؓ ته معلومه شی چه دا حدیث زیات مشهور دے او زمونږ نه کم عمره سړی ته هم معلوم دے. ددے حدیث نه هغه سړی استدلال کړے دے چه هغه خبر واحد لره حجت نهٔ گنړی ځکه چه د خبر واحد په حجت کیدو باندے او په هغے باندے د عمل واجب کیدو د خلفاء راشدینو او اکثرو صحابو او علماء اتفاق دے او حضرت عمرؓ د ابوموسیٰ روایت لره رد کړے نهٔ وو بلکه د مصلحت په لحاظ ئے داسے حکم ورکړو چه دروغجنو او منافقانو خلقو ته د حدیثو د جوړولو او بیانولو جرأت پاتے نهٔ شی. او کچرے د حضرت عمرؓ په نیز خبر واحد حجت نهٔ وے نو د یو سړی به د ابوموسیٰ سره او اتفاق کولو سره څهٔ اثر وو ځکه چه د دوه درے سړو روایت دغه خبر واحد دے ترڅو پورے چه د تواتر درجے ته رسیدلی نهٔ وی (انتهٰی مختصراً)

جِئْتُ أَمْسِ فَسَلَّمْتُ ثَلَاثًا ثُمَّ انْصَرَفْتُ قَالَ قَدْ سَمِعْنَاكَ وَنَحْنُ حِينَئِذٍ عَلٰى شُغْلٍ فَلَوْ مَا اسْتَأْذَنْتَ حَتّٰى يُؤْذَنَ لَكَ قَالَ اسْتَأْذَنْتُ كَمَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَوَاللهِ لَأُوجِعَنَّ ظَهْرَكَ وَبَطْنَكَ أَوْ لَتَأْتِيَنَّ بِمَنْ يَشْهَدُ لَكَ عَلٰى هٰذَا فَقَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ فَوَاللهِ لَا يَقُومُ مَعَكَ إِلَّا أَحْدَثُنَا سِنًّا قُمْ يَا أَبَا سَعِيدٍ فَقُمْتُ حَتّٰى أَتَيْتُ عُمَرَ فَقُلْتُ قَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هٰذَا

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ أَبَا مُوسٰى أَتٰى بَابَ عُمَرَ فَاسْتَأْذَنَ فَقَالَ عُمَرُ وَاحِدَةٌ ثُمَّ اسْتَأْذَنَ الثَّانِيَةَ فَقَالَ عُمَرُ ثِنْتَانِ ثُمَّ اسْتَأْذَنَ الثَّالِثَةَ فَقَالَ عُمَرُ ثَلَاثٌ ثُمَّ انْصَرَفَ فَأَتْبَعَهُ فَرَدَّهُ فَقَالَ إِنْ كَانَ هٰذَا شَيْئًا حَفِظْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَا وَإِلَّا فَلَأَجْعَلَنَّكَ عِظَةً قَالَ أَبُو سَعِيدٍ فَأَتَانَا فَقَالَ أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْاِسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ قَالَ فَجَعَلُوا يَضْحَكُونَ قَالَ فَقُلْتُ أَتَاكُمْ أَخُوكُمُ الْمُسْلِمُ قَدْ أُفْزِعَ تَضْحَكُونَ

زۀ ستاسو خواله راغلے وم. او درے خله سلام مے اوکړو بیا واپس لاړم. حضرت عمرؓ اووے. ما اوریدلی وو خو هغه وخت مونږ په کار کښې وو. تا بیا اجازت ولے اونۀ غوښتو ترهغے پورې چه اجازت تا ته شوے وے. ما اووے رسول اللهﷺ چه په څۀ شان فرمائیلی دی په هغه طریقه مٰا اجازت غوښتلے دے. هغوی اووے قسم دے په الله باندے چه زۀ به غشے ستا په شا او ګیډه کښې خخ کړم یا به تۀ ګواه راولې په دے حدیث باندے. اُبیّ بن کعب اووے قسم دے په الله باندے چه ستا سره به نۀ ځی مګر هغه سړے ځی چه هغه په مونږ ټولو کښې کم عمر وی. پاسه اے ابوسعیدؓ! بیا زۀ پاڅیدم او د حضرت عمرؓ خواله راغلم او ورته مے اووے چه ما د رسول اللهﷺ نه دا حدیث مبارك اوریدلے دے.

د ابوسعیدؓ نه روایت دے چه ابوموسیٰ د حضرت عمرؓ دروازے له راغے او اجازت ئے اوغوښتو. حضرت عمرؓ اووے دا یو ځل شو. بیا هغوی اجازت اوغوښتو حضرت عمرؓ اووے دا دویم ځل شو. بیائے په دریم ځل اجازت اوغوښتو حضرت عمرؓ اووے دا دریم ځل شو. ددے نه پس ابوموسیٰؓ واپس شو. نو حضرت عمرؓ ورپسی د روستو نه څوك اولیږو او واپس ئے راوستو. حضرت عمرؓ اووے اے ابوموسیٰ کچری تا دا د رسول اللهﷺ د یو حدیث موافق کړی وی نو ګواه راوله. ورنه زۀ تا ته داسے سزا درکوم چه په هغے سره نورو ته نصیحت وی. په دے اوریدو سره ابوموسیٰ زمونږ خواله راغے او اونے وئیل آیا تاسو ته معلومه نۀده چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی اجازت غوښتل درے خله دی خلق په خندا شو. ما اووے ستاسو خواله مسلمان رور یرولے شوے راغلے دے او تاسو خندا کوئ. ما

انْطَلِقْ فَأَنَا شَرِيكُكَ فِي هٰذِهِ الْعُقُوبَةِ فَأَتَاهُ فَقَالَ هٰذَا أَبُو سَعِيدٍ

اووے اے ابوموسیٰ خه زۀ ستا سره په دے تکلیف کښې ملګرے یم بیا هغ د حضرت عمر خواله راغے او اوئے وئیل دا ابوسعید ګواه موجود دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ بِمَعْنَى حَدِيثِ بِشْرِ بْنِ مُفَضَّلٍ عَنْ أَبِي مَسْلَمَةَ

د ابوسعید نه دغسے حدیث مروی دے څنګه چه بشر بن مفضل د ابومسلمه په واسطے سره روایت کړے دے.

عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ أَنَّ أَبَا مُوسَى اسْتَأْذَنَ عَلَى عُمَرَ ثَلَاثًا فَكَأَنَّهُ وَجَدَهُ مَشْغُولًا فَرَجَعَ فَقَالَ عُمَرُ أَلَمْ تَسْمَعْ صَوْتَ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ ائْذَنُوا لَهُ فَدُعِيَ لَهُ فَقَالَ مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ قَالَ إِنَّا كُنَّا نُؤْمَرُ بِهٰذَا قَالَ لَتُقِيمَنَّ عَلَى هٰذَا بَيِّنَةً أَوْ لَأَفْعَلَنَّ فَخَرَجَ فَانْطَلَقَ إِلَى مَجْلِسٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالُوا لَا يَشْهَدُ لَكَ عَلَى هٰذَا إِلَّا أَصْغَرُنَا فَقَامَ أَبُو سَعِيدٍ فَقَالَ كُنَّا نُؤْمَرُ بِهٰذَا فَقَالَ عُمَرُ خَفِيَ عَلَيَّ هٰذَا مِنْ أَمْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلْهَانِي عَنْهُ الصَّفْقُ بِالْأَسْوَاقِ

د عبید بن عمیر نه روایت دے چه ابوموسیٰ د عمر نه درے خله اجازت اوغوښتو. هغوی دا اوګڼړل چه هغه په څۀ کار کښې مصروف دے نو واپس لاړو. حضرت عمر (خپلو خلقو ته) اووے. چه مونږ د عبد الله بن قیس (دا د ابوموسیٰ نوم دے) آواز اوریدلے وو تاسو زاااوغواړئ هغوی لره. بیا هغه رااوغوښتے شو. حضرت عمر اووے تا داسے ولے اوکړل هغوی اووے مونږ ته دغه شان حکم شوی وو (د رسول الله ﷺ) حضرت عمر اووے تۀ په دے خبره سره ګواه راوله ورنه زۀ به ستا سره اوګورم (یعنی سزا په درکړم) ابوموسیٰ رااووتو او د انصارو مجلس ته راغے. هغوی اووے ستا سره به زمونږ نه هغه سړے دغه ګواهی ورکوی چه په مونږ تولو کښې کم عمره وی. بیا ابوسعید پاڅیدو او هغوی اووے مونږ ته دغه شان حکم شوے وو. حضرت عمر اووے د رسول الله ﷺ دا حکم ما ته نۀوو ښکاره شوے او د هغے وجه دغه ده په بازارونو کښې معامله کول (یعنی زۀ په تجارت وغیره ددنیا په کارونو کښې مصروف وم او دا حدیث مے نۀ دے اوریدلے. هر کله چه حضرت عمر ته ټول حدیثونه معلوم نۀ دی نو د بل یو مجتهد یا عالم نه حدیث پټ پاتے کیدل څۀ لرے خبره ده).

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِ النَّضْرِ أَلْهَانِي عَنْهُ الصَّفْقُ

د ابن جریج نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے. د نضر (راوی) په حدیث کښې دا جمله نشته دے چه ما لره په بازارونو کښې

بِالأَسْوَاقِ

عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ قَالَ جَاءَ أَبُو مُوسَى إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقَالَ السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ هَذَا عَبْدُ اللهِ بْنُ قَيْسٍ فَلَمْ يَأْذَنْ لَهُ فَقَالَ السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ هَذَا أَبُو مُوسَى السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ هَذَا الأَشْعَرِيُّ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ رُدُّوا عَلَيَّ رُدُّوا عَلَيَّ فَجَاءَ فَقَالَ يَا أَبَا مُوسَى مَا رَدَّكَ كُنَّا فِي شُغْلٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الِاسْتِئْذَانُ ثَلاَثٌ فَإِنْ أُذِنَ لَكَ وَإِلاَّ فَارْجِعْ قَالَ لَتَأْتِيَنِّي عَلَى هَذَا بِبَيِّنَةٍ وَإِلاَّ فَعَلْتُ وَفَعَلْتُ فَذَهَبَ أَبُو مُوسَى قَالَ عُمَرُ إِنْ وَجَدَ بَيِّنَةً تَجِدُوهُ عِنْدَ الْمِنْبَرِ عَشِيَّةً وَإِنْ لَمْ يَجِدْ بَيِّنَةً فَلَمْ تَجِدُوهُ فَلَمَّا أَنْ جَاءَ بِالْعَشِيِّ وَجَدُوهُ قَالَ يَا أَبَا مُوسَى مَا تَقُولُ أَقَدْ وَجَدْتَ قَالَ نَعَمْ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ قَالَ عَدْلٌ قَالَ يَا أَبَا الطُّفَيْلِ مَا يَقُولُ هَذَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ذَلِكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ فَلاَ تَكُونَنَّ عَذَابًا عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سُبْحَانَ

اخستلو او خرڅولو دے نه غافل کړے وم.

د ابو موسیٰ اشعری نه روایت دے چه هغه راغے د حضرت عمر خواله نو اوئے وئیل السلام علیکم عبد الله بن قیس دے. هغوی هغهٔ ته د دننه راتلو اجازت ورنهٔ کړو. بیا هغوی اووے السلام علیکم ابوموسیٰ دے. السلام علیکم اشعری دے. (مخکښې ئے نوم بیان کړو بیا ئے کنیت بیان کړو بیانسبت ددے دپاره چه حضرت عمر ته څهٔ شبهه پاتے نهٔ شی) آخر واپس شو. بیا حضرت عمر ورته اووے تاسو ولے واپس شوئ مونږ په کار کښې وو. هغوی اووے ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو اجازت غوښتل درے ځله دے پس کچرے اجازت اوشی خو ښه ده کنی واپس لاړ شه. حضرت عمر اووے کهٔ چرے په دے حدیث شریف د ګواه را نهٔ وستو نو ګوره چه زهٔ څهٔ کوم (یعنی سزا به درکوم) ابوموسیٰ چه دا واوریدل نو لاړو. حضرت عمر اووے چه کچرے ابوموسیٰ ته ګواه میلاو شی نو مابنام به د منبر په خوا کښې ستاسره میلاویږی. او کچرے ګواه او نهٔ مومی نو نهٔ به مومے تهٔ دهٔ لره. هر کله چه حضرت عمر مابنام د منبر خواله راغے نو ابوموسیٰ هلته موجود وو. حضرت عمر اووے اے ابوموسیٰ تهٔ څهٔ وائے تا ته ګواه میلاو شو. هغوی اووے آو. اُبیٔ بن کعب موجود دے. حضرت عمر اووے بیشك هغه معتبر دے. حضرت عمر اووے اے ابوطفیل (دا د اُبیٔ بن کعب کنیت دے) ابوموسیٰ څهٔ وائی؟ اُبیٔ بن کعب اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه هم دا ئے فرمائیلی وو. اے د خطاب خویه تهٔ عذاب مهٔ جوړیږه د رسول الله ﷺ په صحابو باندے (یعنی دوی ته تکلیف مهٔ ورکوه) حضرت عمر اووے

اللهِ إِنَّمَا سَمِعْتُ شَيْئًا فَأَحْبَبْتُ أَنْ أَتَثَبَّتَ

سُبحٰن الله ما خو یو حدیث واورېدۀ او د هغې زيات تحقيق كول مې بنه اوګڼل (او خما غرض دا هيڅكله نه وو چه معاذ الله زۀ د د حضرت ﷺ صحابو ته تكليف وركړم. نه مې دا مطلب وو چه د ابوموسى دروغژن دے)

عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى بِهٰذَا الإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقَالَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ آنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ نَعَمْ فَلَا تَكُنْ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ عَذَابًا عَلَى أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْ مِنْ قَوْلِ عُمَرَ سُبْحَانَ اللهِ وَمَا بَعْدَهُ

د طلحه بن يحيٰى نه په دغه اسناد سره روايت دے مګر په دے كښې دا دي چه حضرت عمرؓ اووے اے ابومنذر آيا تا اورېدلې دي دا د رسول الله ﷺ نه نو هغوی اووے آو. پس اے ابن خطاب تاسو د رسول ﷺ د صحابؤ دپاره د تكليف باعث مۀ جوړېږئ. او په دې روايت كښې د حضرت عمرؓ د سبحان الله وئيلو او د دے نه روستو الفاظ ذكر كړے شوے نۀ دی.

بَاب كَرَاهَةِ قَوْلِ الْمُسْتَأْذِنِ أَنَا إِذَا قِيلَ مَنْ هٰذَا

باب: هر كله چه څوك د بهر نه آواز اوكړى او د دننه نه تپوس اوشى، څوك ئے نو د دے په جواب د خپل نوم اخلى "زۀ يم" وئيل مكروه دى

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ؓ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَوْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ مَنْ هٰذَا قُلْتُ أَنَا قَالَ فَخَرَجَ وَهُوَ يَقُوْلُ أَنَا أَنَا

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے چه زۀ د رسول الله ﷺ خواله راغلم ما آواز اوكړو. حضرت ﷺ (دننه نه) تپوس اوكړو څوك ئے؟ ما اووے زۀ يم. حضرت ﷺ بهر ته راوتو او دا وينا ئے كوله زۀ خو زۀ هم يم.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ؓ قَالَ اسْتَأْذَنْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ هٰذَا فَقُلْتُ أَنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَنَا

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے چه ما اذن اوغوښتو د رسول الله ﷺ نه حضرت ﷺ تپوس اوكړو څوك ئے. ما اووے زۀ يم حضرت ﷺ اوفرمائيل زۀ خو زۀ هم يم.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمْ كَأَنَّهُ كَرِهَ ذٰلِكَ

د شعبه نه په دغه اسناد سره روايت دے او. په دې كښې دي چه حضرت ﷺ بد اوګڼل "زۀ يم" وئيلو لره (ځكه چه د دے نه څۀ فائده نشته. تپوس كونكى ته نۀ معلومېږى چه څوك دے نو خپل نوم

بنودل یا لقب کوم چه مشهور وی بیان کړی.

بَابُ تَحْرِيمِ النَّظَرِ فِي بَيْتِ غَيْرِهِ

باب: پردی کورته دننه کتل حرام دی

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ فِي جُحْرٍ فِي بَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِدْرًى يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَ لَوْ أَعْلَمُ أَنَّكَ تَنْتَظِرُنِي لَطَعَنْتُ بِهِ فِي عَيْنِكَ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِذْنُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ

د سهل بن سعد ساعدیؓ نه روایت دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ د دروازے په سوری کښې کتل او د حضرتؐ په لاس مبارک کښې ږمنځ وه. حضرت ﷺ په هغې سره خپل سر ګرولو. هر کله چه حضرت ﷺ دغه اولیدو نو اوئے فرمائیل. که زۀ خبر وے چه تۀ ما ته ګورے نو ما به ستا سترګه ویستلے وه. او حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اجازت اغستل د دے دپاره دی چه سترګه بچ شی (په پردی کور کښې د کتلو نه چه حرام دی)

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ مِنْ جُحْرٍ فِي بَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِدْرًى يُرَجِّلُ بِهِ رَأْسَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَعْلَمُ أَنَّكَ تَنْظُرُ طَعَنْتُ بِهِ فِي عَيْنِكَ إِنَّمَا جَعَلَ اللهُ الْإِذْنَ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ

د سهل بن سعدؓ نه روایت دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ د دروازے په چاؤد کښې کتل. او د حضرت ﷺ په لاس کښې یوه ږمنځ وه چه په هغه نی په خپل سر کښې ګومز کوله نو رسول الله ﷺ هغۀ ته اوفرمائیل. که ما ته پته وے چه تۀ ګورے نو ما ستا سترګه ایستلې وے په دے سره. الله اجازت غوښتل مقرر کړی هم د دے دپاره دی چه د نظر بچاؤ وی.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ نَحْوَ حَدِيثِ اللَّيْثِ وَيُونُسَ

سهل بن سعدؓ د نبی ﷺ نه د لیث او د یونس د حدیث پشان روایت کړے دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ مِنْ بَعْضِ حُجَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ إِلَيْهِ بِمِشْقَصٍ أَوْ مَشَاقِصَ فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْتِلُهُ لِيَطْعَنَهُ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه یو سړی کتل د رسول الله ﷺ د مکان په سوری کښې حضرت ﷺ یو غشے یا څو غشی واخستل او پاځیدو لکه چه زۀ وینم حضرت ﷺ له. حضرت ﷺ غوښتله چه په غفلت کښې زۀ دغۀ له په غشی اوځیرم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اطَّلَعَ فِي بَيْتِ قَوْمٍ بِغَيْرِ

د حضرت ابی هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. څوک چه څارنه کوی د یو قوم په کور کښې بغیر د هغوی د اجازت نه

أَبِيهِ فَقَدْ حَلَّ لَهُمْ أَنْ يَفْقَئُوا عَيْنَهُ

نو هغوی لره حلال دی د هغهٔ سترګه خیرل[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ عَلَيْكَ بِغَيْرِ إِذْنٍ فَخَذَفْتَهُ بِحَصَاةٍ فَفَقَأْتَ عَيْنَهُ مَا كَانَ عَلَيْكَ مِنْ جُنَاحٍ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کهٔ چرے یو کس اوګوری ستاسو په کور کښې بغیر ستاسو د اجازت نه او تاسو اوولئ هغهٔ لره او د هغهٔ سترګه اوچوی نو په تاسو باندے څهٔ ګناه نشته دے.

بَابُ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ

باب: نظر چه ناڅاپه پریوځی

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ فَأَمَرَنِي أَنْ أَصْرِفَ بَصَرِي

د جریر بن عبداللهؓ نه روایت دے چه ما د رسول اللهﷺ نه د ناڅاپه نظر پریوتو په باره کښې تپوس اوکړو. حضرتﷺ حکم اوکړو ما ته د نظر اړولو[2].

عَنْ يُونُسَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د یونس په دغه اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے.

---

[1] یعنی کچرے هغه په غشی وغیره هغه اوولی او د هغهٔ سترګه اوچوی نو په کور والاؤ باندے به څهٔ سزا نهٔ وی.

[2] یعنی کچرے په ناشنا ښځه باندے ناڅاپه بے ارادے نه نظر اولګی نو ګناه نهٔ ده لیکن په دغه وخت واجب دی نظر سمدستی اړول. بیا کچرے قصداً اوګوری نو ګنهګار به شی. نووی وائی دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه ښځے لره په لاره کښې خپل مخ پټول واجب نه دی بلکه سنت او مستحب دی. لیکن سړو لره خپل نظر ښکته ساتل پکار دی. البته د ضرورت په وجه سره لیدل صحیح دی. لکه ګواهی یا دوائی علاج کول یا د پیغام ورکولو په صورت کښې یا د اخستلو په وخت یا د معاملے کولو په وخت او دا هم په قدر د حاجت نه چه زیات انتهی

كِتَابُ السَّلَامِ

کتاب د سلام په بیان کښې

بَابٌ يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ

باب : سور به پیاده ته سلام کوی او لږ سړی به ډیرو ته سلام کوی

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی سلام به کوی سور پیاده باندے او پیاده تلونکے به سلام کوی په ناست باندے او لږ کسان به سلام کوی په ډیرو باندے[1]

بَابٌ مِنْ حَقِّ الْجُلُوسِ عَلَى الطَّرِيقِ رَدُّ السَّلَامِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ أَبُو طَلْحَةَ كُنَّا قُعُودًا بِالْأَفْنِيَةِ نَتَحَدَّثُ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ عَلَيْنَا فَقَالَ مَا لَكُمْ وَلِمَجَالِسِ الصُّعُدَاتِ اجْتَنِبُوا مَجَالِسَ الصُّعُدَاتِ فَقُلْنَا إِنَّمَا قَعَدْنَا لِغَيْرِ مَا بَاسٍ قَعَدْنَا نَتَذَاكَرُ وَنَتَحَدَّثُ

باب : په لاره کښې د ناستے حق دا دے چه د سلام جواب ورکړی

د عبد الله بن ابی طلحهؓ نه روایت دے چه مونږ ناست وو د کوڼ مخے ته چه کومه زمکه وی په هغے کښې خبرې مو کولے چه په دیکښې رسول اللهﷺ تشریف راوړو حضرتﷺ اوفرمائیل تاسو لره په لاره کښې د کیناستو نه څه مطلب دے. مونږ عرض اوکړو یا رسول اللهؐ مونږ د څه بدکار دپاره نهٔ یو ناست بلکه مونږ ناست یو چې د اخوا دیخوا ذکر کوو او خبرے مو کولے حضرتﷺ اوفرمائیل ښه ده چه نهٔ منئ نو دے (لارے) حق ادا کوئ هغه څهٔ دے سترګے ښکته ساتل (او د پردو ښځو

---

[1] نوویؒ وئیلی دی سلام کول سنت دی او د هغے جواب ورکول واجب دی لیکن دا واجب په طریقه د کفایه دی یعنی کهٔ په مجلس کښې څو کسانو جواب ورکړو نو د ټولو د طرفنه کافی دی او کهٔ چرے یو هم جواب ور نهٔ کړو نو ټول ګنهګاریږی او غوره دا ده چه داسے سلام اوکړی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته بیا ددے نه پس السلام علیکم ورحمة الله بیا السلام علیکم فقط او سلام علیکم ونیل هم صحیح دے او په شروع کښې علیکم السلام ونیل مکروه دی. په جواب کښې هم و علیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ونیل غوره دی. او په حذف د واؤ علیکم السلام ونیل هم صحیح دی. او صرف علیکم جائز نهٔ دی البته په و علیکم کښې دوه قولونه دی او سلام د الله نوم دے. نو معنٰی د السلام علیکم دا ده چه الله تعالٰی په حفاظت کښې شے یا سلام په معنٰی کښې د سلامتی ده یعنی تهٔ سلام اوسیږه (انتهٰی مختصراً)

قَالَ إِمَّا لَا فَأَدُّوا حَقَّهَا غَضُّ الْبَصَرِ وَرَدُّ السَّلَامِ وَحُسْنُ الْكَلَامِ

په طرف بد نظر نه کول او د سلام جواب ورکول او ښې خبرې کول (په کومو چه خلق خوشحاليږي او د هغې نه ورته فائده رسي)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ بِالطُّرُقَاتِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ مَا لَنَا بُدٌّ مِنْ مَجَالِسِنَا نَتَحَدَّثُ فِيهَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ قَالُوا وَمَا حَقُّهُ قَالَ غَضُّ الْبَصَرِ وَكَفُّ الْأَذَى وَرَدُّ السَّلَامِ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ

د ابوسعيد خدري نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي خان اوساتئ په لارو کښې د کيناستو نه. خلقو اووے يا رسول الله! مونږ ته په خپلو مجلسونو کښې د کيناستو نه او خبرو کولو نه مجبوري ده. حضرت ﷺ اوفرمائيل کچرے تاسو نه منئ نو د لارے حق ادا کوئ. هغوی عرض اوکړو د لارے حق څه دے. حضرت ﷺ اوفرمائيل سترګے ښکته ساتل او چا ته ضرر نه ورکول او د سلام جواب ورکول د ښې خبرے حکم کول او د بدے نه منع کول.

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د زيد بن اسلم نه په دغه اسناد سره روايت دے.

بَاب مِنْ حَقِّ الْمُسْلِمِ لِلْمُسْلِمِ رَدُّ السَّلَامِ

باب : د مسلمان په مسلمان دا هم حق دے چه هغه د سلام جواب ورکړی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ خَمْسٌ تَجِبُ لِلْمُسْلِمِ عَلَى أَخِيهِ رَدُّ السَّلَامِ وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ كَانَ مَعْمَرٌ يُرْسِلُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَأَسْنَدَهُ مَرَّةً عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي پنځهٔ حقونه دي د مسلمان د هغهٔ په رور مسلمان باندے. د سلام جواب ورکول او د پرنجي جواب ورکول او دعوت قبلول او د بيمار تپوس کول او د جنازے سره تلل. عبدالرزاق وئيلي دي چه معمر دے حديث لره مرسل بيانوو د زهري په واسطه سره. او يو ځل ئے مسند بيان کړو د ابن مسيب په واسطے سره د ابوهريرة نه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ قِيلَ مَا هُنَّ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د مسلمان حق په مسلمان باندے شپږ دي. خلقو عرض اوکړو څه څه دي يا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائيل. هر کله چه ته د مسلمان سره ميلاويږے نو په هغهٔ سلام کوه. او هر کله چه هغه تا له دعوت درکړی نو ته ئے قبلوه. او هر کله چه ستا نه مشوره طلب کړی نو ښهٔ مشوره ورکوه. او هر کله چه هغه

لَهُ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ فَسَمِّتْهُ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ

اوپرنجیږی او الحمد لله اووائی نو ته هم جواب ورکړه (یعنی یَرْحَمُكَ الله اووایه) او هر کله چه هغه ناجوړه شی نو تپوس ئے کوه. او هر کله چه مړ شی نو د هغهٔ جنازے سره څه

بَابُ النَّهْيِ عَنِ ابْتِدَاءِ أَهْلِ الْكِتَابِ بِالسَّلَامِ وَكَيْفَ يُرَدُّ عَلَيْهِمْ

باب: یهود او نصاراؤ ته پخپله سلام مهٔ کوه. کچرے هغه اوکړی نو څنګه به جواب ورکوے، د هغے بیان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ فَقُولُوا وَعَلَيْكُمْ

د انس بن مالک نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه تاسو ته اهل کتاب سلام اوکړی.نو تاسو د هغے په جواب کښې وَعلیکم وایئ.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ يُسَلِّمُونَ عَلَيْنَا فَكَيْفَ نَرُدُّ عَلَيْهِمْ قَالَ قُولُوا وَعَلَيْكُمْ

د انس بن مالک نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ صحابو حضرت ﷺ ته عرض اوکړو چه یا رسول الله اهل کتاب مونږ ته سلام کوی مونږ به څنګه د هغے جواب ورکوؤ. حضرت ورته اوفرمائیل وَعلیکم وایئ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْيَهُودَ إِذَا سَلَّمُوا عَلَيْكُمْ يَقُولُ أَحَدُهُمُ السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقُلْ عَلَيْكَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یهود چه هر کله تاسو ته سلام کوی نو په هغوی کښې یو وائی. السَّامُ علیکم (یعنی تاسو د مړهٔ شئ د سام معنی ده مرګ) تاسو وایئ علیك (یعنی ته د مړ شې)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقُولُوا وَعَلَيْكَ

عبد الله بن عمر د نبی ﷺ نه دغسے حدیث روایت کړو مګر په دے کښې دی چه تاسو وایئ وَعلیکم.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتِ اسْتَأْذَنَ رَهْطٌ مِنَ الْيَهُودِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقَالَتْ عَائِشَةُ بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ

د ام المؤمنین حضرت عائشے نه روایت دے چه یهودو د رسول الله ﷺ خواله د راتلو اجازت اوغوښتو. (هغوی اجازت ورکړو هغه راغلو) هغوی اووے السَّام علیکم. حضرت عائشے اووے په جواب کښې تاسو د سام وی او لعنت د وی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. اے عائشے! الله جل جلاله په هر کار کښې نرمی غوره کوی. هغوی اووے یا رسول الله تا وانهٔ وریدل څهٔ چه هغوی اووے. حضرت ﷺ

كُلِّهِ قَالَتْ أَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ قَدْ قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ

اوفرمائيل ما خو د هغے جواب ورکړو او وعليکم مے اووے. (بس دومره قدرے جواب کافي وو او تا چه کوم جواب ورکړو د هغے نه زيات سخت وو. او د غسے سختي الله تعالى ته غوره نه ده)

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمَا جَمِيعًا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قُلْتُ عَلَيْكُمْ وَلَمْ يَذْكُرُوا الْوَاوَ

د زهري نه په دغه اسناد سره په دوارو حديثونو کښې شته دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ما عليکم وئيلي وو. او 'واو' ئے ذکر نۀ کړو (يعني صرف عليکم حضرت ﷺ اوفرمائيل.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُنَاسٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ قَالَ وَعَلَيْكُمْ قَالَتْ عَائِشَةُ قُلْتُ بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَالذَّامُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ لَا تَكُونِي فَاحِشَةً فَقَالَتْ مَا سَمِعْتَ مَا قَالُوا فَقَالَ أَوَلَيْسَ قَدْ رَدَدْتُ عَلَيْهِمُ الَّذِي قَالُوا قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ

د ام المؤمنين حضرت عائشے نه روايت دے چه رسول الله ﷺ له څو يهوديان راغلل. هغوی اووے السّام عليکم يا اباالقاسم حضرت ﷺ اوفرمائيل وعليکم. حضرت عائشے ﷺ اووے. بَل عليکم السام والذّام يعني په تاسو باندے دمرګ وی او بد والے رسول الله ﷺ اوفرمائيل اے عائشے! بد زبانه کيږه مه هغوی اووے تاو وانۀ وريدل. يهودو چه څۀ اووے. حضرت ﷺ اوفرمائيل ما واوريدل هغوی چه څۀ اووے. او خکه ما جواب ورنکړو هغوی چه څۀ وئيلي دی هغه مے په هغوی ورواوګرځوۀ

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَفَطِنَتْ بِهِمْ عَائِشَةُ فَسَبَّتْهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْ يَا عَائِشَةُ فَإِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْفُحْشَ وَالتَّفَحُّشَ وَزَادَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَإِذَا جَاءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللهُ إِلٰى آخِرِ الْآيَةِ

د اعمش نه په دغه اسناد سره روايت دے مګر په دے کښې دی چه حضرت عائشے د هغوی په بے ادبه خبرو پوهه شوه او هغوی ته ئے بد ردے اووے نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل. داسے مۀ وايه اے عائشے! خکه چه الله تعالى ناکاره خبرے او کنځلے په دے روايت کښې دا هم زياته ده. نو الله تعالى دا آيت نازل کړو وَإِذَا جَاءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللهُ الآية يعني هر کله چه هغوی راځي ستا خواله نو په دے طور سره سلام کوی چه په هغے الله په تا سلام نۀ دے کړے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ سَلَّمَ نَاسٌ مِنْ يَهُودَ عَلٰى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے چه د يهودو څۀ خلقو رسول الله ﷺ ته سلام اوکړو نو اوئے وئيل السّام عليکم يا ابا القاسم. حضرت ﷺ

فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ وَعَلَيْكُمْ فَقَالَتْ عَائِشَةُ وَغَضِبَتْ أَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ بَلَى قَدْ سَمِعْتُ فَرَدَدْتُ عَلَيْهِمْ وَإِنَّا نُجَابُ عَلَيْهِمْ وَلَا يُجَابُونَ عَلَيْنَا

اوفرمائیل وعلیکم حضرت عائشه په غصه شوه او ونے وئیل اے تا وانه وریده ددوی وینا. حضرت ﷺ اوفرمائیل ما واوریده او د هغې جواب مے هم ورکړو او مونږ چه کومه دعا کوو په دوی باندې هغه قبلیږی او د دوی دعا نه قبلیږی (دغه شان) اوشوه چه اُلته سام په یهودو باندے راغې مړهٔ شو او اووژلے شو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبْدَءُوا الْيَهُودَ وَلَا النَّصَارَى بِالسَّلَامِ فَإِذَا لَقِيتُمْ أَحَدَهُمْ فِي طَرِيقٍ فَاضْطَرُّوهُ إِلَى أَضْيَقِهِ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. یهود او نصاراؤ ته د خپل طرف نه سلام مهٔ کوه او هر کله چه تاسو د یو یهودوی یا نصرانی سره په لاره کښې میلاؤ شئ نو هغه مجبوره کوئ تنګے لارے ته[1].

عَنْ سُهَيْلٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ وَكِيعٍ إِذَا لَقِيتُمُ الْيَهُودَ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ فِي أَهْلِ الْكِتَابِ وَفِي حَدِيثِ جَرِيرٍ إِذَا لَقِيتُمُوهُمْ وَلَمْ يُسَمِّ أَحَدًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ

د سهیل نه په دغه اسناد سره روایت دے. او د وکیع په حدیث کښې دی هر کله چه تاسو د یهودو سره میلاؤ شئ او ابن جعفر د شعبه په واسطے سره کوم حدیث روایت کړے دی په هغه کښې دی د اهل کتاب په باره کښې. او د جریر په حدیث کښې دی هر کله چه تاسو د هغوی سره میلاؤ شئ. او د مشرکینو سره د چا نوم نهٔ دے اخستے.

بَابُ السَّلَامِ عَلَى الصِّبْيَانِ

باب: په ماشومانو سلام کول صحیح دی

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ تیر شول په بچو باندے نو سلام ئے اوکړو هغوی ته.

[1] نووی وائی زمونږ د صحابؤ دا قول دے چه ذمی کافر به د لارے په مینځ باندے تلو ته نهٔ شی پرېښودے. بلکه په یوه کونه کښې په تنګه لاره به خی. کچرے مسلمانان په دغه لاره باندے چلیږی. او کچرے ګڼره نهٔ وی نو پرواه نشته. مګر د تنګولو نه دا مطلب نهٔ دے چه هغه په کنده کښې اوغورځوی یا د دیوال سره ورله دیکه ورکړئ او اختلاف کړے دے عالمانو کافرانو ته په سلام کولو کښې زمونږ مذهب دادے چه دشروع نه هغوی ته سلام کول حرام دی. او کچرے هغه اوکړی نو په جواب کښې ورته صرف وعلیکم وایئ. او دغه قول دے د عامو علماؤ او سلفو. او د یوے طائفې دا قول دے چه اهل کتابو ته ابتداءً سلام کول صحیح دی. او دغه منقول دی د عبدالله بن عباس او ابی امامه او ابن ابی محیریز نه او په کوم جماعت کښې چه مسلمانانو او کافران دواړه وی. هغه جماعت ته سلام کول درست دی. لیکن نیت به کوی مسلمانانو ته د سلام کولو. (انتهٰی مختصراً)

عَنْ سَيَّارٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د سيار نه په دغه اسناد سره روايت دے.

عَنْ سَيَّارٍ قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ فَمَرَّ بِصِبْيَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ وَحَدَّثَ ثَابِتٌ أَنَّهُ كَانَ يَمْشِي مَعَ أَنَسٍ فَمَرَّ بِصِبْيَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ وَحَدَّثَ أَنَسٌ أَنَّهُ كَانَ يَمْشِي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَرَّ بِصِبْيَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ

د سيار نه روايت دے وائی چه زهٔ د ثابت بنانیؒ سره روان وم. هغه تير شو په بچو باندے نو سلام ئے اوکړو هغوی ته او حديث ئے بيان کړي چه هغه د انسؓ سره روان وو په بچو باندے راغے. نو سلام ئے اوکړو. او انسؓ حديث بيان کړے دے چه هغه د رسول اللهﷺ سره روان وو چه په ماشومانو باندے تير شو نو سلام ئے اوکړو هغوی ته[1].

بَابُ جَوَازِ جَعْلِ الْإِذْنِ رَفْعَ حِجَابٍ أَوْ غَيْرِهِ مِنَ الْعَلَامَاتِ

باب: دا هم د اجازت د ورکولو يو شکل دے چه پرده اوچته کړی (يا ورو کول اوکړی)

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ يَقُولُ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْنُكَ عَلَيَّ أَنْ يُرْفَعَ الْحِجَابُ وَأَنْ تَسْتَمِعَ سِوَادِي حَتّٰى أَنْهَاكَ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ ماته اوفرمائيل. ستا دپاره د راتلو اجازت هم دے. چه ته پرده اوچته کړے او خما د راز خبرے واورے. د کومے پورے چه زهٔ تا لره نهٔ منع کوم[2].

عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د حسن بن عبيد نه په دغه اسناد سره روايت دے.

بَابُ إِبَاحَةِ الْخُرُوجِ لِلنِّسَاءِ لِقَضَاءِ حَاجَةِ الْإِنْسَانِ

باب: ښځو لره د ضروری حاجت دپاره بهر وتل صحيح دی

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ بَعْدَ مَا

د ام المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے هر کله چه مونږ ته د

---

[1] نوویؒ وائی دد ے حديث نه دا معلومه شوه چه بچی تميز لری نو هغوی ته سلام کول مستحب دی. او بيان دے پکښې د رسول اللهﷺ د تواضع او انکساری: دغه شان ښځو ته هم سلام کول پکار دی کچری هغه څو تنه جمع وی. او کچرے يوه ښځه وی نو د هغے خاوند يا سيد يا محرم به ورته سلام کوی. او کچرے هغه ښځه بوډئ وی نو پردے سرے ورته هم سلام کولے شی. او کهٔ خوانه وی نو پردے سرے به ورته سلام نهٔ کوی. بلکه هغے له جواب ورکول هم مکروه دی. انتهى مختصراً.

[2] عبد الله بن مسعودؓ د حضرتﷺ خادم وو. هر کله چه په قران کښې دا حکم راغے چه د حضرتﷺ کور ته به خلق بے اجازته نهٔ ورځی. نو حضرتﷺ هغوی ته دا حديث اوفرمائيلو. يعنی تا ته بار بار د اجازت غوښتلو ضرورت نشته ځکه چه په کار خدمت کښې به درته گرانه وی ـ ستا پرده اوچتول او خما نهٔ منع کول هم د اجازت نخښه ده. پس هر يو بنده لره د عام او خاص دپاره داسے نخښے مقررول صحيح دی.

ضُرِبَ عَلَيْهَا الْحِجَابُ لِتَقْضِيَ حَاجَتَهَا وَكَانَتِ امْرَأَةً جَسِيمَةً تَفْرَعُ النِّسَاءَ جِسْمًا لَا تَخْفَى عَلَى مَنْ يَعْرِفُهَا فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ يَا سَوْدَةُ وَاللهِ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا فَانْظُرِي كَيْفَ تَخْرُجِينَ قَالَتْ فَانْكَفَأَتْ رَاجِعَةً وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي وَإِنَّهُ لَيَتَعَشَّى وَفِي يَدِهِ عَرْقٌ فَدَخَلَتْ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي خَرَجْتُ فَقَالَ لِي عُمَرُ كَذَا وَكَذَا قَالَتْ فَأُوحِيَ إِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ وَإِنَّ الْعَرْقَ فِي يَدِهِ مَا وَضَعَهُ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ يَفْرَعُ النِّسَاءَ جِسْمُهَا زَادَ أَبُو بَكْرٍ فِي حَدِيثِهِ فَقَالَ هِشَامٌ يَعْنِي الْبَرَازَ

پردے حکم اوشو د هغې نه پس حضرت سودهؓ د حاجت دپاره اووتله او هغه یوه غټه ښځه وه. چه په ټولو ښځو کښې وتلې ښکاریده په غورب والی کښې. او چا چه به هغه پیژندله د هغې نه به نه شوه پټیدے (یعنې هغه به پیژندله) نو حضرت عمرؓ هغه اولیدله او ورته ئې اووے اے سودهؓ! قسم دے په الله باندے چه ته خپل ځان زمونږ نه پټولے نه شې ځکه یوه شه ته څنګه راوتلې ئې. ددے په اوریدو هغه واپس راغله او رسول اللهﷺ خما په کور کښې طعام خوړلو. د حضرتﷺ په لاس کښې یو هډوکے وو. چه په دے کښې سودهؓ راغله او هغې اووے یا رسول اللهﷺ زهٔ وتلې وم نو عمرؓ راته داسې داسې خبرے اوکړے. دغه وخت په حضرتﷺ باندے د وحې حالت راغې. بیا هغه حالت لاړو. او هډوکے لا د حضرتﷺ په لاس کښې وو حضرتﷺ هغې لره ایخودے نهٔ وو. حضرتﷺ اوفرمائیل تاسو ته د ضروري حاجت دپاره د وتلو اجازت اوشو. هشامؒ وائي د حاجت نه مراد د لوئې بولو دے[1].

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ وَكَانَتِ امْرَأَةً يَفْرَعُ النَّاسَ جِسْمُهَا قَالَ وَإِنَّهُ لَيَتَعَشَّى

د هشام نه په دغه اسناد سره روایت دے. او په دے کښې دي چه هغه داسې ښځه وه چه د هغوی بدن د خلقو نه وتلې شوے وو په غټوالي کښې. او په دے کښې دي چه حضرتﷺ د شپې ډوډئ ئې خوړله

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د هشام نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَزْوَاجَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ إِذَا تَبَرَّزْنَ إِلَى الْمَنَاصِعِ

د ام المؤمنین حضرت عائشېؓ نه روایت دے چه د رسول اللهﷺ بیبیانې به د شپې وتلې هر کله چه به اودس ماتي له تلې. د هغه ځایونو

[1] نوويؒ وائي ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه ښځه د قضائي حاجت دپاره یو معمولي مقام ته بغیر د خاوند د اجازت نه تلې شي. قاضي عیاضؒ ونیلي دي دا قسم حجاب یعنې پرده د حضرتﷺ د بیبیانو سره سره خاص وه چه په هغې کښې د مخ او ورغوو هم د نهٔ ښکاره کیدو حکم وو. او هغوی لره په کپړه کښې د تنه هم خپله جوثه ښودل صحیح نهٔ وو. مګر د ضروري حاجت دپاره. او هر کله چه حضرت زینبؓ وفات شوه نو د هغې په نعش باندے ئې یوه قبه غوندے جوړه کړے وه. ددے دپاره چه ددے جثه نه معلومیږي.

وَهُوَ صَعِيدٌ أَفْيَحُ وَكَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَقُولُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْجُبْ نِسَاءَكَ فَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ فَخَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ زَوْجُ النَّبِيِّ ﷺ لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي عِشَاءً وَكَانَتِ امْرَأَةً طَوِيلَةً فَنَادَاهَا عُمَرُ أَلَا قَدْ عَرَفْنَاكِ يَا سَوْدَةُ حِرْصًا عَلَى أَنْ يَنْزِلَ الْحِجَابُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ الْحِجَابَ

په طرف چه د مدینې نه بهر وو.او په صفا پراخه ځائے کښې وو. حضرت عمرؓ رسول الله ﷺ ته اووے ښځے په پرده کښې پکار دی.حضرت ﷺ به د پردے حکم نۀ ورکوو. يو ځل د ام المؤمنين سوده بن زمعهؓ د شپے رااووته د ماسختن په وخت هغه يو دنګه لوړه ښځه وه. حضرت عمرؓ هغے ته آواز ورکړو. او ورته ئے اووے مونږ اوپیژندے ته اے سوده بنت زمعه! او دائے په دے حرص او کړو چه د پردے حکم نازل شی.حضرت عائشهؓ وائی بیا د پردے حکم نازل شو.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د ابن شهاب نه په دغه اسنا د سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے.

بَابُ تَحْرِيمِ الْخَلْوَةِ بِالْأَجْنَبِيَّةِ وَالدُّخُولِ عَلَيْهَا

باب : د پردئ ښځے سره ځان له کیدل او د هغے خواله تلل حرام دی

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا لَا يَبِيتَنَّ رَجُلٌ عِنْدَ امْرَأَةٍ ثَيِّبٍ إِلَّا أَنْ يَكُونَ نَاكِحًا أَوْ ذَا مَحْرَمٍ

د جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خبردار ! یو سړے د یواځے د یوے وادۀ شوے ښځه په خواه کښې د شپے نۀ پاتے کیږی مګر دا چه د هغے ښځے خاوند یا محرم وی[1].

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يَا رَسُولَ اللهِ أَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ قَالَ الْحَمْوُ الْمَوْتُ

د عقبه بن عامرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. بچ شئ تاسو د ښځو خواله د تلو نه. یو انصاری اووے یا رسول الله! کچرے لیور لاړ شی.حضرت ﷺ اوفرمائیل . لیور خو مرګ دے[2].

---

[1] : نوویؒ وئیلی دی د وادۀ شوے ښځے قید ئے د دے دپاره اولګوۀ چه نا وادۀ شوے جینئ خو د سړونه خامخا ځانله اوسیږی. او هر کله چه د وادۀ شوے سره یوځائے اوسیدل منع شو نو د ناوادۀ سره اوسیدل خو به په طریق اولی منع وی اود محرم نه مراد هغه سړے دے چه د هغۀ سره همیشه دپاره نکاح حرام وی. لکه پلار، رور، ترۀ، ماما، نیکۀ وغیره.

[2] : ځکه چه لیور په ورندار باندے تسلط کولے شی. نو د هغۀ نه ځان ساتل ډیر ضروری دی.زمونږ په ملک کښې دا بد رسم عام دے.ښځے اکثر د خپلو لیورونو او لیورزو په مخکښې رااوځی او د محرم پشان د هغوی په مخکښې خپل اندامونه ښکاره ساتی . دا زیات قبیح او خطرناک کار دے.

عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ حَدَّثَهُمْ بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د یزید بن ابی حبیب نه په دغه اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے.

عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ وَسَمِعْتُ اللَّيْثَ بْنَ سَعْدٍ يَقُولُ الْحَمْوُ أَخُ الزَّوْجِ وَمَا أَشْبَهَهُ مِنْ أَقَارِبِ الزَّوْجِ ابْنُ الْعَمِّ وَنَحْوُهُ

د وهب نه روایت دے چه ما د لیث بن سعد نه اوریدلی دی چه په حدیث کښې چه کوم راغلی دی چه حمو مرګ دے. نو د حمو نه مراد د خاوند خپلوان او عزیزان دی لکه د خاوند رور یا د هغهٔ د تره ځوئ (د خاوند د کومو عزیزانو سره چه د ښځې نکاح کول صحیح وی هغه ټول په حمو کښې داخل دی د هغې نه پرده کول پکار دی سوا د خاوند د پلار یا د نیکهٔ نه یا د هغهٔ د ځوئ نه چه هغه محرم دی پرده ترے ضروری نهٔ ده)

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ حَدَّثَهُ أَنَّ نَفَرًا مِنْ بَنِي هَاشِمٍ دَخَلُوا عَلَى أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ وَهِيَ تَحْتَهُ يَوْمَئِذٍ فَرَآهُمْ فَكَرِهَ ذَلِكَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ لَمْ أَرَ إِلاَّ خَيْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَرَّأَهَا مِنْ ذَلِكَ ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ لاَ يَدْخُلَنَّ رَجُلٌ بَعْدَ يَوْمِي هَذَا عَلَى مُغِيبَةٍ إِلاَّ وَمَعَهُ رَجُلٌ أَوِ اثْنَانِ

د عبد الله بن عمرو بن العاص نه روایت دے چه د بنی هاشم څهٔ خلق د اسماء بنت عمیس خواله لاړو. ابوبکر صدیق هم راغې. دغه وخت اسماء د هغوی په نکاح کښې وه. هغوی چه هغه اولیدل نو د هغوی راتلل ئې بد اوګڼل بیائې رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو او اوئې وئیل چه ما خو څهٔ بده خبره نهٔ ده لیدلې. حضرت ﷺ اوفرمائیل اسماء لره الله پاک پاکه کړے ده د بد فعل نه بیا رسول الله ﷺ په منبر باندے اودریدو او اوئې فرمائیل. د نن نه به یو سړے د هغه ښځې کور ته نهٔ ځی چه د هغې خاوند غائب وی (یعنی په کور کښې نهٔ وی) مګر د یو یا دوه ملګرو سره[1].

بَابُ بَيَانِ أَنَّهُ يُسْتَحَبُّ لِمَنْ رُئِيَ خَالِيًا بِامْرَأَةٍ وَكَانَتْ زَوْجَتَهُ أَوْ مَحْرَمًا لَهُ أَنْ يَقُولَ هَذِهِ فُلاَنَةُ

باب: کوم سړے چه د یوے ښځے سره ځانلوالی کښې وی او هغه ددهٔ ښځه یا محرم وی او بل سړے اووینی نو هغهٔ ته اووائی چه دا څما بی بی یا محرم

[1]: نووی وائی د ظاهر حدیث نه دا معلومیږی چه دوه یا درے سړی د ښځے سره خلوت کولے شی. لیکن مشهور قول زمونږ د صحابو په نزد داد ے چه هغه هم حرام دی او د حدیث تاویل داسے کیدے شی. چه مراد هغه خلق دی چه نیک او صالح وی.

لِيَدْفَعَ ظَنَّ السُّوْءِ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مَعَ إِحْدَى نِسَائِهِ فَمَرَّ بِهِ رَجُلٌ فَدَعَاهُ فَجَاءَ فَقَالَ يَا فُلَانُ هٰذِهِ زَوْجَتِي فُلَانَةُ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَنْ كُنْتُ أَظُنُّ بِهِ فَلَمْ أَكُنْ أَظُنُّ بِكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ

عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعْتَكِفًا فَأَتَيْتُهُ أَزُوْرُهُ لَيْلًا فَحَدَّثْتُهُ ثُمَّ قُمْتُ لِأَنْقَلِبَ فَقَامَ مَعِي لِيَقْلِبَنِي وَكَانَ مَسْكَنُهَا فِي دَارِ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ فَمَرَّ رَجُلَانِ مِنَ الْأَنْصَارِ فَلَمَّا رَأَيَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْرَعَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رِسْلِكُمَا إِنَّهَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ فَقَالَا سُبْحَانَ اللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ وَإِنِّي خَشِيْتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوْبِكُمَا شَرًّا أَوْ قَالَ شَيْئًا

عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ أَنَّ صَفِيَّةَ زَوْجَ النَّبِيِّ

ده ددے دپاره چه هغهٔ ته بدګمانی نهٔ وی

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د خپلے یوے بی بی سره وو چه په کښې یو سړے مخے ته تیر شو. حضرت هغه را اوغوښتو. هغه چه راغے نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل! اے فلانیه دا خما بی بی ده. هغه سړی اووے یا رسول الله! زهٔ کهٔ په چا باندے ګمان کوم نو په تا باندے ګمان کولو والانهٔ یم حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل شیطان د انسان په بدن کښې داسے چلیږی لکه وینه چه چلیږی (نو شاید ستا په زړهٔ کښې وسوسه واچوی چه پیغمبر د پردئ ښځے سره روان دے)

د صفیه بنت حیی نه روایت دے چه رسول الله په اعتکاف کښې وو زهٔ د شپے د هغوی د لیدو دپاره راغلم ما د حضرت ﷺ سره خبرے اوکړے. با زهٔ اودریدم د واپس راتلو دپاره. حضرت هم خما سره اودریدو خما کور ته د رسولو دپاره. خما کور د أسامه بن زید په مکان کښې وو. په لاره کښې د انصارو یو دوه سړی میلاو شو هر کله چه هغوی رسول الله ﷺ لره اولیدو نو تیز تیز تلل ئے شروع کړل رسول الله ﷺ اوفرمائیل په قلاره قلاره ځئ. دا صفیه بنت حیی ده (د مؤمنانو مور) هغوی دواړو اووے سبحن الله یا رسول الله! (یعنی مونږ په تا باندے بدګمانی کولے شو) حضرت ﷺ اوفرمائیل شیطان د انسان په بدن کښې د وینے پشان ګرځی. او زهٔ اویریدم چه چرته ستاسو په زړهٔ کښې بد خیال اونهٔ غورځوی (او د هغے په وجه تباه نهٔ شئ)[1].

د علی بن حسین نه روایت دے چه د مؤمنانو مور صفیے د نبی ﷺ

---

[1]: نووی وائی په پیغمبرانو باندے بدګمانی کول کفر دے. او ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه ښځه د خپل خاوند سره میلاوېدے شی د اعتکاف په حالت کښې د شپے یا د ورځے. لیکن د ښځے سره ډیر کیښناستل او د هغے د خبرو نه خوند حاصلول مکروه دی په اعتکاف کښې. انتهی مختصراً

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزُورُهُ فِي اعْتِكَافِهِ فِي الْمَسْجِدِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ فَتَحَدَّثَتْ عِنْدَهُ سَاعَةً ثُمَّ قَامَتْ تَنْقَلِبُ وَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْلِبُهَا ثُمَّ ذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ مَعْمَرٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَبْلُغُ مِنَ الْإِنْسَانِ مَبْلَغَ الدَّمِ وَلَمْ يَقُلْ يَجْرِي

بي بي هغۀ له خبر ورکړه چه هغه د رسول الله ﷺ خواله په حالت د اعتکاف کښې د رمضان په آخری لسو کښې په جماعت کښې زیارت له راغله او بیائې د څۀ وخته پورے د حضرت ﷺ سره خبرے اوکړے. بیا پاڅیده د واپس تلو دپاره. نبی ﷺ هم د هغې سره پاڅیدو کورته د رسولو دپاره. بیائے بیان کړو حدیث لره په مثل د معمر د حدیث دومره فرق دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه شیطان د انسان په بدن کښې د وینې ځائے ته رسی.او په دے کښې د ګرځیدو ذکر نشته دے.

بَابُ مَنْ أَتَى مَجْلِسًا فَوَجَدَ فُرْجَةً فَجَلَسَ فِيهَا وَإِلَّا وَرَاءَهُمْ

باب : څوک چه مجلس ته راشي او په صف کښې ځائے اومومی نو کیښنی دے او کۀ میلاو نۀ شی نو روستو د کیښنی

عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا هُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ وَالنَّاسُ مَعَهُ إِذْ أَقْبَلَ نَفَرٌ ثَلَاثَةٌ فَأَقْبَلَ اثْنَانِ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ وَذَهَبَ وَاحِدٌ قَالَ فَوَقَفَا عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَرَأَى فُرْجَةً فِي الْحَلْقَةِ فَجَلَسَ فِيهَا وَأَمَّا الْآخَرُ فَجَلَسَ خَلْفَهُمْ وَأَمَّا الثَّالِثُ فَأَدْبَرَ ذَاهِبًا فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ عَنِ النَّفَرِ الثَّلَاثَةِ أَمَّا أَحَدُهُمْ فَأَوَى إِلَى اللهِ فَآوَاهُ اللهُ وَأَمَّا الْآخَرُ فَاسْتَحْيَا فَاسْتَحْيَا اللهُ مِنْهُ وَأَمَّا الْآخَرُ فَأَعْرَضَ فَأَعْرَضَ اللهُ عَنْهُ

د ابو واقد لیثی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په جماعت کښې ناست وو او خلق د حضرت ﷺ سره وو.په دے کښې درے سړی راغلو. دوه نیغ د رسول الله ﷺ خواله راغلو.او یو لاړو. او هغه دوه چه کوم راغلل د دوی نه یو په مجلس کښې خالی ځائے اوموندو نو هلته کیښناستو او هغه بل د خلقو نه روستو کیښناستو او هغه دریم خو په شا لاړو. هر کله چه رسول الله ﷺ فارغ شو نو اوئې فرمائیل زۀ تاسو ته د هغه دریو سړو حال وایم. یو خو د اوسیدو ځائے واخستو د الله سره الله هغۀ ته ځائے ورکړو. او دویم شرم اوکړو (په خلقو کښې د ننوتو نه) الله هم د هغۀ نه شرم اوکړو.او هغه دریم مخ واړه وو الله هم د هغۀ نه مخ واړه وو.

عَنْ إِسْحٰقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ حَدَّثَهُ فِي هٰذَا الإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ فِي الْمَعْنٰى

اسحاق بن عبد الله بن ابی طلحه هم په دغه اسناد سره دغسے حدیث د مضمون په لحاظ سره روایت کړو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُقِيمَنَّ أَحَدُكُمُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی. ستاسو نه د خوك يو كس لره د هغه د خائے نه نۀ پاځوی او پخپله د هلته نۀ کیښنی[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَقْعَدِهِ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ وَلٰكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. یو سرے د بل سرے نۀ پاځوی د هغۀ د خائے نه چه دے کیښنی په هغے باندے. لیکن خوارۀ شئ او خائے ورکړئ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ اللَّيْثِ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِي الْحَدِيثِ وَلٰكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا وَزَادَ فِي حَدِيثِ ابْنِ جُرَيْجٍ قُلْتُ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ قَالَ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَغَيْرِهَا

روایت دے د بن عمر ؓ د نبی ﷺ نه څنګه چه د لیث (راوی) حدیث دے. او په دے کښې دا نشته دے چه خوارۀ شئ او خائے ورکړئ او د ابن جریج په حدیث کښې دا زیاته ده چه ما اووے دا د جمعے حکم دے نو هغوی اووے جُمعه وی یا بله ورځ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُقِيمَنَّ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ ثُمَّ يَجْلِسُ فِي مَجْلِسِهِ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا قَامَ لَهُ رَجُلٌ عَنْ مَجْلِسِهِ لَمْ يَجْلِسْ فِيهِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. خوك د ستاسو نه خپل يو رور لره د هغۀ د خائے نه نۀ پاځوی چه پخپله د هغۀ په خائے کیښنی او د عبد الله بن عمر ؓ دپاره چه به هر کله یو سرے د خپل خائے نه پاځیدو هغوی به په هغه خائے نۀ کیښناستل (اگر چه د هغۀ په رضامندئ سره کیښناستل جائز دی مګر دا احتیاط وو چه کیدے شی په زړۀ کښې خفه نۀ شی)

[1] نووی ؒ وائی دا نهی د حرمت دپاره ده. نو څوك چه په جماعت وغیره کښې د جُمعے په ورځ یا په بله یوه ورځ په یو خائے کیښنی هغه د هغۀ خائے حقدار دے او بل کس لره د هغۀ پاځول جائز نۀ دی په دے حدیث سره. مګر زمونږ ملګرو دوه نه مستثنی کړے دے هغه صورت لره چه هر کله د چا په جماعت کښې یو خائے معین وی د فتوے ورکولو دپاره یا د قرآن لوستلو دپاره. یا د شرعی تعلیم دپاره. نو هغه د هغے حقدار دے. او بل کس لره په هغه خائے کیښناستل صحیح نۀ دی. انتهی.

د اردو کتاب مترجم وائی چه په ظاهر حدیث باندے د عمل کولو دپاره پکار دی او کچرے په جماعت کښې یو خائے معین هم وی او بل یو کس ته معلوم نۀ وی هغه په هغه خائے کیښنی. نو د هغۀ پاځول صحیح نۀ دی. او دغه صحیح دی.

عَنْ مَعْمَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د معمر نه په دغه اسناد سره هم ورتنی حدیث پشان روایت دے

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ قَالَ لَا يُقِيمَنَّ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ثُمَّ لِيُخَالِفْ إِلَى مَقْعَدِهِ فَيَقْعُدَ فِيهِ وَلٰكِنْ يَقُولُ افْسَحُوا

د جابرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك دِ ستاسو نه خپل رور لره د جمعے په ورځ د هغهٔ د ځائے نه پاڅوی چه دے هلته کینښنی بلکه داسے دِ وائی خوارهٔ شئ.

بَاب إِذَا قَامَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ عَادَ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ

باب: هر کله چه څوك د خپل ځائے نه پاڅی لاړ شی بیا راشی نو هغه د هغه ځائے ډیر حقدار دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ وَفِي حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ مَنْ قَامَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ

د ابوهریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه ستاسو نه پاڅی د خپل ځائے نه کوم ځائے کښں چه هغه ناست وو (د څهٔ حاجت د پاره) او بیا واپس راشی نو هغه د هغه ځائے زیات حقدار دے.

بَاب مَنْعِ الْمُخَنَّثِ مِنَ الدُّخُولِ عَلَى النِّسَاءِ الْأَجَانِبِ

باب: هیجړا، د پردئ ښځے خواله به نهٔ ځی

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ مُخَنَّثًا كَانَ عِنْدَهَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْبَيْتِ فَقَالَ لِأَخِي أُمِّ سَلَمَةَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أُمَيَّةَ إِنْ فَتَحَ اللهُ عَلَيْكُمُ الطَّائِفَ غَدًا فَإِنِّي أَدُلُّكَ عَلَى بِنْتِ غَيْلَانَ فَإِنَّهَا تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ قَالَ فَسَمِعَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا يَدْخُلْ هٰؤُلَاءِ عَلَيْكُمْ

د ام المؤمنین ام سلمهؓ نه روایت دے چه یو مُخنث د هغوی سره وو. او رسول الله ﷺ په کور کښں وو. نو هغهٔ د ام سلمه رور ته اووے. اے عبد الله بن امیه کچرے الله تعالی صبا تاسو له په طائف باندے فتح درکړه نو زهٔ به تا ته د غیلان لور اوښایم هر کله چه هغه د مخے نه راځی نو د هغے په ګیډه باندے څلور دیے وی او هر کله چه په شا واوړی نو اته معلومیږی (د دواړو طرفونو نه یعنی څریه ده او عربو به څریو ښځو لره خوښولے) دا خبره رسول الله ﷺ واوریده. حضرت ﷺ اوفرمائیل دے به د تته ستاسو خواله نهٔ راځی[1].

[1] نووىؒ وئیلی دی د هغه مخنث نوم هینت یا تهیب وو یا مانع او مخکښں به هغه د رسول الله ﷺ د بیبیانو خواله راتلو او هغهٔ به اجازت ورکوو هغه خلقو ته چه هغه به خادمان و او د ښځو سره به ئے څهٔ غرض نهٔ لرلو. د دغے خبرے نه پس حضرت ﷺ منع کړلو. او

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُخَنَّثٌ فَكَانُوا يَعُدُّونَهُ مِنْ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ قَالَ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَهُوَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ وَهُوَ يَنْعَتُ امْرَأَةً قَالَ إِذَا أَقْبَلَتْ أَقْبَلَتْ بِأَرْبَعٍ وَإِذَا أَدْبَرَتْ أَدْبَرَتْ بِثَمَانٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أَرَى هٰذَا يَعْرِفُ مَا هَاهُنَا لَا يَدْخُلَنَّ عَلَيْكُنَّ قَالَتْ فَحَجَبُوهُ

د ام المؤمنین حضرت عائشې نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ خواله به یو مخنث راتلو. او حضرت ﷺ به هغهٔ لره د هغه خلقو نه ګنړلو چه د هغوی به د ښځو سره څهٔ غرض نه وو (او په قران کښې ددوی راتلل د ښځو په مخکښې ئې جائز کړی دی) یو ورځ رسول الله ﷺ د خپلې یوې بی بی خواله راغے. او هغه (مخنث) د یوے ښځې کولو چه هر کله د مخې نه راځی نو څلور موړے ئې رااخستے وی راځی او هر کله چه په شاشی نو اتهٔ موړے معلومیږی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا دلته چه دی دوی لره پیژنی (یعنی د ښځو قبح او حُسن لره غوره کوی) دے به ستاسو خواله نهٔ راځی بیائے د هغهٔ نه پرده کول شروع کړو.

بَابُ جَوَازِ إِرْدَافِ الْمَرْأَةِ الْأَجْنَبِيَّةِ إِذَا أَعْيَتْ فِي الطَّرِيقِ

باب: کچرے پردئ ښځه په لار کښې ستړے شی نو هغې لره خپل ځان سره سورول صحیح دی

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ تَزَوَّجَنِي الزُّبَيْرُ وَمَا لَهُ فِي الْأَرْضِ مِنْ مَالٍ وَلَا مَمْلُوكٍ وَلَا شَيْءٍ غَيْرَ فَرَسِهِ قَالَتْ فَكُنْتُ أَعْلِفُ فَرَسَهُ وَأَكْفِيهِ مَئُونَتَهُ وَأَسُوسُهُ وَأَدُقُّ النَّوَى لِنَاضِحِهِ وَأَعْلِفُهُ وَأَسْتَقِي الْمَاءَ وَأَخْرِزُ غَرْبَهُ وَأَعْجِنُ وَلَمْ أَكُنْ أُحْسِنُ أَخْبِزُ وَكَانَ يَخْبِزُ لِي جَارَاتٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَكُنَّ نِسْوَةَ صِدْقٍ قَالَتْ وَكُنْتُ أَنْقُلُ النَّوَى مِنْ أَرْضِ الزُّبَيْرِ

د اسماء بنت ابی بکر نه روایت دے چه زبیر بن العوام خما سره نکاح اوکړه (چه د رسول الله ﷺ د ترور ځوئ وو) او د هغهٔ سره څهٔ مال نهٔ وو نهٔ ورسره غلام وو. نهٔ نور څهٔ صرف یو آس وو. ما به هغه اس څرولو او تول کار به مے د اس کولو. او د آس خدمت کاره هم وم. او پنډوکی به مے هم د هغهٔ د اوښ دپاره ترلو. او څرو به مے هم هغهٔ لره. او اوبهٔ به مے ورله هم ورکولے. او بوقه به مے هم راوستله او اوړهٔ به هم اغږل، لیکن دوډئ به مے په ښې طریقه نهٔ شوے پخولے. نو د ګاونډ انصاری ښځو به خما دوډئ پخولے. او هغوی ډیرے د محبت خبرے کولے. اسماء وائی ما به د زبیر د هغه زمکے نه کومه چه رسول الله ﷺ هغه ته د مقطع په طور ورکړے وه پنډوکی راوړلو په خپل سر باندے. او هغه مقطعه د مدینې

مخنث په دوه قسمه دی یو خو هغه چه خلقی دی یعنی نامرد وی. په هغهٔ باندے څهٔ عذاب نشته دے ځکه چه هغه معذوره دے. دویم چه هغه سړے وی او د ښځو پشان خپل ځان جوړ کړی دا ملعون دے. انتهی مختصراً

الَّتِي أَقْطَعَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَأْسِي وَهِيَ عَلَى ثُلُثَيْ فَرْسَخٍ قَالَتْ فَجِئْتُ يَوْمًا وَالنَّوَى عَلَى رَأْسِي فَلَقِيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَدَعَانِي ثُمَّ قَالَ إِخْ إِخْ لِيَحْمِلَنِي خَلْفَهُ قَالَتْ فَاسْتَحْيَيْتُ وَعَرَفْتُ غَيْرَتَكَ فَقَالَ وَاللهِ لَحَمْلُكِ النَّوَى عَلَى رَأْسِكِ أَشَدُّ مِنْ رُكُوبِكِ مَعَهُ قَالَتْ حَتَّى أَرْسَلَ إِلَيَّ أَبُو بَكْرٍ بَعْدَ ذَلِكَ بِخَادِمٍ فَكَفَتْنِي سِيَاسَةَ الْفَرَسِ فَكَأَنَّمَا أَعْتَقَتْنِي

عَنْ أَسْمَاءَ ؓ قَالَتْ كُنْتُ أَخْدُمُ الزُّبَيْرَ خِدْمَةَ الْبَيْتِ وَكَانَ لَهُ فَرَسٌ وَكُنْتُ أَسُوسُهُ فَلَمْ يَكُنْ مِنَ الْخِدْمَةِ شَيْءٌ أَشَدَّ عَلَيَّ مِنْ سِيَاسَةِ الْفَرَسِ كُنْتُ أَحْتَشُّ لَهُ

نه دوه میله لرے وه. چه یو میل د شپږ زره لاسو وی. او لاس د خلیرېشتو ګوتو وی او ګوته د شپږو وربشو او فرسخ د دریو میلو وی، یوه ورځ ما د هغه ځائے نه پندوکے راوړلو په لاره کښ د رسول الله ﷺ او د هغوی سره د هغوی د څو صحابو سره ملاقات اوشو. حضرت ﷺ زۀ رااوغوښتم او بیائے اوښ کینښنوو او راته ئے اووے اخ اخ د دے دپاره چه د خان نه شاته ما په اوښ کینښنوی ماله شرم راغے اوغیرت. حضرت ﷺ اوفرمائیل په الله قسم دی چه د پندوکی بوجه په سر باندے اوچتول ځما سره د سوریدونه زیات سخت دی (یعني داسی بوجه نو ته برداشت کوے او ځما سره په ناستے ولے نۀ ځے) اسماء ؓ وائی بیا ابوبکر ؓ یوه وینځه ما ته رااولیږله هغے بیا د اس ټول کار کول شروع کړل لکه چه هغوی زۀ آزاده کړم[1].

د اسماء ؓ نه روایت دے چه ما د زبیر ؓ د کور کار کولو. د هغهٔ یو آس وو د هغے به هم پالنه کوله نو یو کار په ما باندے د اس د خدمت نه زیات سخت نۀ وو. د هغے دپاره به ما واښهٔ راوړل د هغے خدمت پالنه به مے کوله بیا ما ته یوه وینځه میلاؤ شوه رسول الله ﷺ له قیدیان راغلو

[1] نووی ؒ وائی دا کار لکه دودۍ پخول، کپړے وینځل، د خاوند خدمت کول، اوږهٔ اغړل دا هغه کارونه دی چه په مروت او حسن معاشرت کښ داخل دی. او ښځے د پخوانه داسے کارونه د خپلو خاوندانو دپاره کوی لیکن دا کارونه په ښځو باندے واجب نۀ دی کهٔ د هغے زړهٔ غواړی کوی به ئے او کهٔ زړهٔ ئے نۀ غواړی نۀ به ئے کوی واجب په ښځه باندے صرف دغه دوه کارونه دی. یو خو دا چه دصحبت نه به انکار نۀ کوی. دویم د خاوند په کور کښ به اوسیږی او ددے حدیث نه دا معلوم شوه چه مقطعه ورکول امام لره صحیح دی او کله د مقطعے زمکه پشان د ملك ورکولے شی داسے مقطعے لره د مقطعے مالك بیا خرخولے شی. او کله کله ئے صرف نفع ورکولے شی نو د هغے د خرڅولو اجازت نۀ وی. او دا هم معلومه شوه چه کوم څیزونه اوغورځولے شی لکه هډوکی تکرکی وغیره د هغے غونډول صحیح دی او هغه حلال دی. او دا هم معلوم شوه چه کومه ښځه محرم نۀ وی کچرے هغه په لاره کښ ستړے شوے میلاؤ شی نو هغے لره د خپل خان سره سورول صحیح دی خصوصاً هر کله چه نور نیك بخت خلق هم ورسره وی. او قاضی عیاض وئیلی دی چه دا د رسول الله ﷺ خصوصیت وو. ځکه چه اسماء د ابوبکر ؓ لور او د عائشے ؓ خور او د زبیر بی بی وه. لکه د حضرت ﷺ د کور والاؤ پشان وه. بل چا لره داسے کول صحیح نۀ دی. انتهی مختصراً.

وَأَقُومُ عَلَيْهِ وَأَسُوسُهُ قَالَ ثُمَّ إِنَّهَا أَصَابَتْ خَادِمًا جَاءَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْيٌ فَأَعْطَاهَا خَادِمًا قَالَتْ كَفَتْنِي سِيَاسَةَ الْفَرَسِ فَأَلْقَتْ عَنِّي مَئُونَتَهُ فَجَاءَنِي رَجُلٌ فَقَالَ يَا أُمَّ عَبْدِ اللهِ إِنِّي رَجُلٌ فَقِيرٌ أَرَدْتُ أَنْ أَبِيعَ فِي ظِلِّ دَارِكِ قَالَتْ إِنِّي إِنْ رَخَّصْتُ لَكَ أَبَى ذَاكَ الزُّبَيْرُ فَتَعَالَ فَاطْلُبْ إِلَيَّ وَالزُّبَيْرُ شَاهِدٌ فَجَاءَ فَقَالَ يَا أُمَّ عَبْدِ اللهِ إِنِّي رَجُلٌ فَقِيرٌ أَرَدْتُ أَنْ أَبِيعَ فِي ظِلِّ دَارِكِ فَقَالَتْ مَا لَكَ بِالْمَدِينَةِ إِلَّا دَارِي فَقَالَ لَهَا الزُّبَيْرُ مَا لَكِ أَنْ تَمْنَعِي رَجُلًا فَقِيرًا يَبِيعُ فَكَانَ يَبِيعُ إِلَى أَنْ كَسَبَ فَبِعْتُهُ الْجَارِيَةَ فَدَخَلَ عَلَيَّ الزُّبَيْرُ وَثَمَنُهَا فِي حَجْرِي فَقَالَ هَبِيهَا لِي قَالَتْ إِنِّي قَدْ تَصَدَّقْتُ بِهَا

حضرت ﷺ ما ته هم یو وینځه راکړه هغې د اس تول کار کول شروع کړو او دا محنت خما د پاسه نه هغې اوچت کړو. بیا خما خواله یو سړے راغی او اوئې وئیل اے ام عبد الله! زهٔ یو محتاج سړے یم خما اراده ده چه ستاسو د دیوال په سوری باندې دکان اولګوم. ما اووے کچرے زهٔ تا ته اجازت درکړم. داسې نهٔ وی چه زبیرؓ خفه شی نو داسې اوکړه هر کله چه زبیر موجود وی د هغهٔ په مخکښې ما ته اووایه هغه (سړے) بیا راغی او اوئې وئیل اے د عبد الله مور. زهٔ یو محتاج سړے یم زهٔ غواړم چه ستاسو د دیوال په سوری باندې دکان اوکړم. ما اووے تا ته په ټوله مدینه کښې چرته بل کور نهٔ میلاویږی سوا خما د کور نه (دا د اسماءؓ یو تدبیر وو د زبیرؓ د ژبې نه د اجازت اخستلو دپاره) زبیرؓ اووے. اسماء تا له څهٔ شوی دی تهٔ فقیر له منع کوې د خرڅولو نه بیا هغه دکان شروع کړو تر دے پورے چه هغه روپئ اوګټلې. هغه وینځه ما د هغهٔ په لاس خرڅه کړه هر کله چه زبیرؓ خما خواله راغی نو د هغې (وینځې) د قیمت پیسے خما په غیږه کښې وې. زبیرؓ اووے دا پیسے ما ته هبه راکړه. نو ما اووے دا ما صدقه ورکړې ده.

بَاب تَحْرِيمِ مُنَاجَاةِ الِاثْنَيْنِ دُونَ الثَّالِثِ بِغَيْرِ رِضَاهُ

باب: درے سړے وی نو د دریم د رضا نه بغیر د دوؤ پټے پټے په غوږ کښې خبرے کول حرام دی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ ثَلَاثَةٌ فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ وَاحِدٍ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په درے کسانو کښې د دوه کسه پټے پټے خبرے نهٔ کوی بغیر د دریم د مرضئ نه[1].

[1] دا نهي تحريمي ده د دے دپاره چه هغه دریم ته پریشانی او تکلیف نهٔ وی او دا ممانعت عام دے په سفر او حضر کښې. او بعضو وئیلی دی چه صرف په سفر کښې ممانعت دے. او بعضو وئیلی دی چه دا حدیث منسوخ دے په شروع د اسلام کښې به منافقانو

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ مَالِكٍ

عبد الله بن عمر د رسول الله ﷺ نه د مالك د حديث هم معنى حديث روايت کړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الْآخَرِ حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ مِنْ أَجْلِ أَنْ يُحْزِنَهُ

د عبد الله بن مسعود نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى هرکله چه تاسو درے کسان يئ نو ستاسو نه د دوه کسان د دريم نه خائله يو بل ته په غوږ کښې پټې خبرے نه کوى ترڅو پورے چه نور خلق ستاسو سره ميلاو شى. ځکه چه هغه به خفه شى.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ صَاحِبِهِمَا فَإِنَّ ذَلِكَ يُحْزِنُهُ

عبد الله اووئيل چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى هر کله چه تاسو درے وے نو دريم لره پريږدئ په خپل مينځ کښې په غوږ کښې پټې خبرے مه کوئ ځکه چه دا دے نه دريم ته خفګان کيږى.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د اعمش نه په دغه اسناد سره روايت دے.

بَابُ الطِّبِّ وَالْمَرَضِ وَالرُّقَى

باب : د علاج او د بيمارئ او د منتر بيان

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ إِذَا اشْتَكَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَقَاهُ جِبْرِيلُ قَالَ بِاسْمِ اللهِ يُبْرِيكَ وَمِنْ كُلِّ دَاءٍ يَشْفِيكَ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ وَشَرِّ كُلِّ ذِي عَيْنٍ

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روايت دے چه هر کله به رسول الله ﷺ بيمار شو نو جبرئيل به دا دعا په حضرت ﷺ باندے لوستله: بسم الله د آخره پورے يعنى د الله تعالى په نوم سره زۀ مدد غواړم. هغه به تاسو لره ښۀ کوى. د هرے بيمارئ نه به تاسو لره شفا درکوى. د هر يو حسد کونکى حسد نه به تاسو لره بچ کوى او د هر بد نظر غورځولو والاد نظر نه[1].

مسلمانانو ته د تکليف ورکولو دپاره داسے کولو ليکن کچرے څلور سرى وى او دوه د هغوى نه يو بل ته په غوږ کښې خبرى کوى نو بيا څۀ قباحت نشته دے (نووى)

[1] نووى وائى دا د جبرائيل منتر وو او په يو حديث کښې دے چه بے حسابه به جنت ته ځى هغه خوك چه منتر نۀ کوى. او په دے دواړو حديثو کښې څۀ مخالفت نشته دے. ځکه چه د منتر نۀ کولو والا په تعريف کښې هغه منتر مراد دے چه هغه د کافرانو کلام وى. يا چه د هغے معنى معلومه نۀ وى يا چه د عربئ نه سوا په بله يوه ژبه کښې وى نو هغه منتر مراد دے بد دے ځکه چه کيدے شى په هغے کښې د کفر يا د شرك مضمون وى ليکن په قرانى ايتونو يا احاديثو کښې چه کومے دُعاګانے راغلى دى په هغے سره منتر کول منع نۀ دى بلکه سنت دى او ځنو وئيلى دى چه د منتر پريخودل غوره دى په هر حال کښې ليکن دا قول مختار نۀ دے

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ اشْتَكَيْتَ فَقَالَ نَعَمْ قَالَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ اللهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ

د ابوسعید نه روایت دے چه حضرت جبرئیل د رسول الله ﷺ خواله راغے. او اوئے وئیل اے محمد تاسو بیمار شوی یئ. حضرت اوفرمائیل آو. نو حضرت جبرئیل اووے بِسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ د آخره پورے یعنی د الله تعالی په نوم باندے منتر کوم په تا باندے د هر هغه څیز نه چه تا لره تنګوی. او د هر روح د بدئ نه یا د حاسد د نظر نه د الله تا لره شفا درکړی. د الله په نوم سره منتر کوم په تا باندے.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الْعَيْنُ حَقٌّ

همام بن منبه وئیلی دی دا هغه حدیث دے چه مونږ ته ابوهریره د رسول الله ﷺ نه بیان کړے دے. چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه نظر حق دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعَيْنُ حَقٌّ وَلَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ سَبَقَتْهُ الْعَيْنُ وَإِذَا اسْتُغْسِلْتُمْ فَاغْسِلُوا

د عبد الله بن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. نظر حق دے (یعنی په نظر کښ د الله په حکم سره تاثیر شته دے) او کچرے یو شے د تقدیر نه مخکښ کیدے شوے نو په نظر به مخکښ کیدو (خو د تقدیر نه څه شے مخکښ کیدونکے نشته) هر کله چه تاسو ته د غسل په باره کښ اووئیلے شی نو غسل کوئ[1].

---

[1]: امام ابو عبد الله ماذری وئیلی دی چه دجمهورو علماؤ اعتقاد په دغه ظاهر حدیث باندے دے. هغوی وائی نظر لګیدل حق دی. او د اهل بدعتو یو جماعت ددے نه انکار کوی او د هغوی قول باطل دے. ځکه چه د نظر تاثیر د عقل خلاف نه دے. او په شریعت کښ وارد دے بیا د انکار کولو څه وجه ده او د نظر د غسل طریقه دا دے چه د کوم بنده نظر لګیدلے وی یعنی بد نظر چا چه کړے وی د هغهٔ په مخکښ به یو جام د اوبو کیږدی په زمکه باندے هغه کس به د هغے نه یو چُنك اوبهٔ واخلی او خلهٔ به په دغه جام کښ کنګال کړی بیا به مخ اووینځی بیا به په ګس لاس کښ اوبهٔ واخلی او ښی لاس به د مروند پورے اووینځی بیا ګس لاس بیا به په ښی لاس کښ اوبهٔ واخلی او ګس ځنګل به اووینځی. بیا به ښیٔ اووینځی. بیا ګسه خپه هم په دغه شان لکه چه لاس نے وینځلی وو. او د ځنګلو او د کتو په مینځ کښ به نهٔ وینځی. دا ټول به په دغه پیاله کښ دننه اووینځی بیا به د خپل لنګ ددننه طرفنه اویزانده شوی غاړه د ښی طرفنه او وینځی. او ځنو وئیلی دی چه خپل شرمګاه به اووینځی. بیا به دغه اوبهٔ په چا چه نظر لګیدلے وی د هغهٔ په سر باندے د شا د طرفنه واچوی ددے تاثیر د حدیث نه ثابت دے. او د چانظر چه لګیدلے وی کچری هغه ددے غسل نه انکار اوکړی نو په هغهٔ د زور اوکړے شی. ځکه چه دا امر د وجوب دپاره دے. او د ځنو په نز به پرے جبر نهٔ شی کیدے. قاضی عیاض وئیلی دی د کوم بنده نظر چه لګی نو امام دِ هغهٔ ته په خپل کور کښ د اوسیدو حکم اوکړی. او کچرے هغه محتاج وی نو په قدر د خرچے دِ هغهٔ له ورکوی ځکه چه د هغه ضرر د اوږے او د پیازو خوړلو او جماعت ته د تلو نه زیات دے. انتهی مختصراً

بَاب السِّحْرِ

عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ سَحَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهُودِيٌّ مِنْ يَهُودِ بَنِي زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ قَالَتْ حَتَّى كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا يَفْعَلُهُ حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ ذَاتَ لَيْلَةٍ دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ دَعَا ثُمَّ دَعَا ثُمَّ قَالَ يَا عَائِشَةُ أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ جَاءَنِي رَجُلَانِ فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ فَقَالَ الَّذِي عِنْدَ رَأْسِي لِلَّذِي عِنْدَ رِجْلَيَّ أَوِ الَّذِي عِنْدَ رِجْلَيَّ لِلَّذِي عِنْدَ رَأْسِي مَا وَجَعُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ قَالَ مَنْ طَبَّهُ قَالَ

باب : د جادو په بیان کښ [1]

د ام المؤمنین حضرت عائشې ؓ نه روایت دے چه په رسول الله ﷺ باندے د بنی زریق یو یهودی جادو اوکړو چه هغهٔ ته به ئے لبید بن اعصم وئیلو. تر دے پورے چه د حضرت ﷺ به خیال راغے چه زهٔ دا کار کوم او نهٔ به ئے شو کولے هغه کار لره. یو ورځ یا یوه شپه حضرت ﷺ دُعا اوکړه. بیائے دُعا اوکړه. بیائے اوفرمائیل. اے عائشې! تا ته معلومه شوه. الله جل جلاله ما ته اوښودل هغه څهٔ د څهٔ چه ما د هغهٔ نه تپوس اوکړو. خما خواله دوه سړی راغلل یو خما د سر په خوا کښ کیښناستو او هغه بل مے د خپو په خوا کښ (هغه دواړه فرښتے وے) کومه چه د سر په خوا کښ ناسته وه هغے هغه بلے ته اووے. دے سړی ته څهٔ بیماری ده؟ هغے اووے په دهٔ باندے جادو شوے دے. هغے اووے چا کړے دے؟ هغې بلے اووے لبید ابن اعصم بیا هغے اووے په څهٔ شی ئے جادو کړے دے؟ هغے اووے په ګومنز کښ او په هغه ویختو کښ چه د ګومنز سره ختلی

---

[1] نووی ؒ وائی چه امام مازری ؒ وئیلی دی د اهل سنت او جمهورو قول دادے چه سحر حق دے. او د هغے یو حقیقت دے لکه د نورو اشیاؤ او خنو ددے نه انکار کړے دے او کومے خبرے چه د سحر نه پیدا کیږی هغے تهٔ خیالات باطله وئیلی دی. او الله تعالی د سحر په خپل کتاب کښ ذکر کړے دے. او دائے هم فرمائیلی دی چه هغه ایزده کیدے شی. او په دی سره کافر کیږی او هغه جدائی راولی په مینځ د سړی او ښځے کښ. او ددے نه معلومیږی چه د سحر حقیقت شته او ګوم احادیث چه په دے باب کښ مذکور دی د هغے نه هم دغه معلومیږی. او عقلًا چه څهٔ تاثیر د سحر نه پیدا کیږی هغه محال نهٔ دے. بیا ددے نه د انکار څهٔ وجه نشته دے. او د سحر په تاثیر کښ د علماؤ اختلاف دے. خنے وائی ددے اثر فقط دومره دے چه په خاوند او ښځه کښ جنګ راتلے شی او صحیح مذهب دادے چه ډیر تاثیرونه دی د الله په حکم سره. او په پیغمبر او ساحر کښ فرق دے چه ساحر د نبوت اثبات نهٔ شی غوښتے. او پیغمبر د نبوت ثابتولو دپاره د عادت نه خلاف کارونه کوی. او په ولی او ساحر کښ دا فرق دے چه ساحر فاسق وی او کرامت د فاسق نه نهٔ کیږی. اوس د سحر چلول حرام دی. ددے ایزده کول او بل ته ښودل هم حرام دی. او د مالك ؒ په نز ساحر کافر دے او د هغهٔ توبه قبوله نهٔ ده. اوس کچرے چا لره په سحر سره اووژنی او د هغے اقرار اوکړی نو په هغهٔ باندے به قصاص واجب وی د نورو ګواهانو نه دا ثابت کیدے نهٔ شی. انتهی مختصرًا

لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ قَالَ فِي أَيِّ شَيْءٍ قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ قَالَ وَجُفِّ طَلْعَةِ ذَكَرٍ قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِي بِئْرِ ذِي أَرْوَانَ قَالَتْ فَأَتَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ ثُمَّ قَالَ يَا عَائِشَةُ وَاللَّهِ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا أَحْرَقْتَهُ قَالَ لَا أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِي اللَّهُ وَكَرِهْتُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا فَأَمَرْتُ بِهَا فَدُفِنَتْ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُحِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ أَبُو كُرَيْبٍ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ وَقَالَ فِيهِ فَذَهَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْبِئْرِ فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَعَلَيْهَا نَخْلٌ وَقَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَأَخْرِجْهُ وَلَمْ يَقُلْ أَفَلَا أَحْرَقْتَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فَأَمَرْتُ بِهَا فَدُفِنَتْ

وی او د نر کهجور د پوستکی په غلاف کښ. بیا هغې اووے دائے کوم ځائے ایخودے دے؟ هغې اووے د ذی اروان په کوهی کښ حضرت عائشهؓ وائی بیا رسول اللهﷺ د خپلو څو صحابۀ سره هغه کوهی له لاړو. حضرتﷺ اوفرمائیل اے عائشے قسم په خدائے چه د هغه کوهی اوبۀ داسے وے لکه د نکریزے شنے او د هغه ځائے د کهجورو اونے داسے وے لکه د شیطانانو سرونه ما عرض اوکړو یا رسول اللهؐ تاسو هغې لره سیزلو ولے نه (یعنی هغه چه کوم ویخته وغیره راووتل) حضرتﷺ اوفرمائیل زۀ خو الله بنۀ کړمه اوس ما ته بده معلومیده په خلقو کښ فساد پیدا کول ما حکم اوکړو او هغه خخ کړے شو[1].

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه په رسول اللهﷺ باندے جادو اوکړے شو (مخکښ) ابو کریب پوره حدیث بیان کړو د ابن نمیر د حدیث په مثل. په دے کښ نے اووے چه رسول اللهﷺ د هغه کوهی طرفته لاړۀ حضرتﷺ اولیدل چه هلته د کهجورو اونے وے. او حضرت عائشےؓ اووے. آیا تاسو هغې لره اوخکلے یا رسول اللهؐ او دا نے اونۀ وے چه تاسو هغې لره ولے اونۀ سوزولے. او دا ذکر نے اونۀ کړو چه ما حکم اوکړو او هغه په زمکه کښ خخے کړے شوے.

[1] په یو روایت کښ دی چه په حضرتﷺ د خیال بندئ جادو شوے وو چه ناکړے کار به حضرتﷺ داسے ګنړلو چه ما کړے دے. او د بخاری په روایت کښ دی چه حضرتﷺ به د خپلو بیبیانو سره صحبت نۀ شو کولے. دغه رنګے یوه ورځ حضرتﷺ خما سره وو د خپل صحبت په باره کښ نے د الله نه دعا اوکړه بیائے دا حدیث اوفرمائیلو او په یو روایت کښ دي حضرت عائشهؓ فرمائی ما اووے یا حضرتﷺ دغه جادوګر یهودی له سزا ورکړئ او د ښهر نه نے اوباسئ. حضرتؐ اوفرمائیل الله ماله صحت راکړو اوس زۀ فساد ولے راولاړ کړم او شور او غوغا جوړ کړم. په حضرتﷺ باندے د جادو کولو دا حکمت وو. چه کافرو به د حضرتﷺ په معجزو لیدو حضرتﷺ ته جادوګر ونیلو او مشهوره داده چه په جادوګر باندے جادو نۀ چلیږی په حضرتﷺ باندے چه هر کله د جادو اثر اوشونو د هغوی په نزد هم حضرتﷺ ته جادوګر ونیل صحیح نۀ شو. تحفة الاخیار.

بَابُ السُّمِّ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ امْرَأَةً يَهُودِيَّةً أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ مَسْمُومَةٍ فَأَكَلَ مِنْهَا فَجِيءَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهَا عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَتْ أَرَدْتُ لِأَقْتُلَكَ قَالَ مَا كَانَ اللهُ لِيُسَلِّطَكِ عَلَى ذَاكِ قَالَ أَوْ قَالَ عَلَيَّ قَالَ قَالُوا أَلَا نَقْتُلُهَا قَالَ لَا قَالَ فَمَا زِلْتُ أَعْرِفُهَا فِي لَهَوَاتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب : د زهرو بیان

د حضرت انس نه روایت دے چه یو یهودی ښځې رسول الله ﷺ له په زهرو کښې میلاؤ کړے د بزے غوښه راوړه. حضرت ﷺ د هغې نه اوخوړه. بیا هغه ښځه د حضرت ﷺ خواله راوستے شوه. حضرت ﷺ ترے تپوس اوکړو چه داسے تا ولے اوکړو. هغې اووے ما ستا وژل غوښتلو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل الله تعالیٰ تالره دومره طاقت درکولو والانهٔ دے (چه ته دِ د هغه پیغمبر هلاك کړے) حضرت علی اووے مونږ دے لره قتلوو یا رسول الله؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل نه (دا د حضرت ﷺ وهم وو په هغه ښځه باندے. ددے نه هم معلومه شوه چه حضرت پیغمبر برحق وو ورنه کهٔ چرے بادشاه وے نو دغه ښځه به ئے قتل کړے وه) راوی وئیلی دی ما به همیشه د هغه زهرو اثر د حضرت ﷺ په تالو کښې موندلو[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يُحَدِّثُ أَنَّ يَهُودِيَّةً جَعَلَتْ سَمًّا فِي لَحْمٍ ثُمَّ أَتَتْ بِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِ خَالِدٍ

انس بن مالك حدیث بیانوۍ چه یوے یهودنړے ښځے په غوښه کښې زهر میلاؤ کړی وو. بیا هغه د رسول الله ﷺ خواله راوستے شوه (مخکښې) د خالد د حدیث پشان.

بَابُ اسْتِحْبَابِ رُقْيَةِ الْمَرِيضِ

باب : په بیمار باندے منتر وئیل مستحب دی

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَكَى مِنَّا إِنْسَانٌ

د ام المؤمنین حضرت عائشے نه روایت دے رسول الله ﷺ چه به هر کله په مونږ کښې څوك بیمار شو نو خپل ښی لاس به ئے په هغه باندے

---

[1] : یعنی نخښه د هغه زهرو. معاذ الله څومره سخت زهر وو. په دے حدیث کښې د حضرت ﷺ څو معجزے دی. یو په سختو زهرو سره نهٔ هلاك کیدل. په بل روایت کښې دی چه حضرت ﷺ ورته دا اوفرمائیل چه په دے کښې زهر دی دا هم یوه معجزه ده. په یو روایت کښې دی چه هغې غوښے اوے چه په ما کښې زهر دی دا هم معجزه ده. دا ښځه مردوده زینب د حارث لور او د مرحب خور وه. چه هغهٔ لره حضرت علی د خیبر په جنګ کښې وژلے و. او په یو روایت کښې دی چه حضرت ﷺ هغه ښځه د بشر بن براء ولرثانو ته اوسپارله چه هغه د دغه زهرو نه مړ وو. هغوی هغې خبیثې لره قتل کړه. لعنة الله علیها (نووی)

مَسَحَهُ بِيَمِينِهِ ثُمَّ قَالَ أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا فَلَمَّا مَرِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَثَقُلَ أَخَذْتُ بِيَدِهِ لِأَصْنَعَ بِهِ نَحْوَ مَا كَانَ يَصْنَعُ فَانْتَزَعَ يَدَهُ مِنْ يَدِي ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَاجْعَلْنِي مَعَ الرَّفِيقِ الْأَعْلَى قَالَتْ فَذَهَبْتُ أَنْظُرُ فَإِذَا هُوَ قَدْ قَضَى

اووهو او بيا به ئے اوفرمائيل. آذهَبِ النَّاسَ د اخره پورے. يعنى لرے كره بيمارى اے د خلقو مالكه او صحت وركره بس ته شفا وركونكے نشته دے شفا مگر ته شفا وركونكے ئے داسے شفاء وركره چه بيمارى پاتے نهٔ شى هركله چه رسول الله ﷺ بيمار شو او بيمارى ئے سخته شوه نو ما د حضرت لاس اونيوؤ د داسے كولو دپاره لكه ځنگه چه به د حضرت ﷺ كولو (يعنى ما اراده اوكره چه د حضرتؐ خپل لاس مبارك په هغه باندے راكاږم او دا دُعا اولولم) حضرت ﷺ خپل لاس زما د لاس نه آزاد كړو او ورته فرمائيل. يا الله اوبخښے ما لره او ما د لوچت ملگرو سره كړے (يعنى د فرښتو او پيغمبرانوؑ سره) حضرت عائشهؓ فرمائى بيا چه ما كتل نو د حضرت ﷺ كار شوے وو (يعنى وفات ئے موندلے وو. د حضرت ﷺ ددعا سره سمدستى حضرت ﷺ الله تعالى خان ته اوغوښتو) اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِإِسْنَادِ جَرِيرٍ فِي حَدِيثِ هُشَيْمٍ وَشُعْبَةَ مَسَحَهُ بِيَدِهِ قَالَ وَفِي حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ مَسَحَهُ بِيَمِينِهِ وَقَالَ فِي عَقِبِ حَدِيثِ يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الْأَعْمَشِ قَالَ فَحَدَّثْتُ بِهِ مَنْصُورًا فَحَدَّثَنِي عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ بِنَحْوِهِ

د اعمش نه د جرير په اسناد سره چه كوم روايت دے په هغے كښې هشيم او د شعبه په حديث كښې دى چه حضرت ﷺ په هغهٔ لاس راښكودو. او د ثورى په حديث كښې دى چه حضرت ﷺ خپل ښے لاس راښكودو. او ددے حديث په آخر كښې اووے چه يحيىٰ د سفيان نه او هغوى د اعمش نه حديث روايت كړو. نو ما منصور ته بيان اوكړو. نو هغوى حديث روايت كړو د ابراهيم نه هغوى د مسروق نه هغوى د عائشےؓ نه

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَادَ مَرِيضًا يَقُولُ أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ اشْفِهِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا

د ام المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ چه به كله د بيمار تپوس كولو نو فرمائيل به ئے. اے د خلقو پروردگاره ددهٔ بيمارى لرے كره او دهٔ له شفا وركره. هم ته شفا وركونكے يے. او سوا ستا د شفا نه بله شفا نشته او داسے شفا وركره چه هغه څه بيمارى نهٔ پريږدى.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى الْمَرِيضَ يَدْعُو لَهُ قَالَ أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ فَدَعَا لَهُ وَقَالَ وَأَنْتَ الشَّافِي

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ به چه هر کله د یو بیمار خواله تلو نو هغهٔ ته به ئے دُعا فرمائیله چه اے د خلقو پروردګاره ، تکلیف لرے کړه او شفا ورکړه ځکه چه ته شفا ورکونکے یے او شفا نهٔ شی کیدے بغیر ستا د شفا نه داسے شفا ورکړے چه څهٔ بیماری نه پریږدی. او د ابوبکرؓ په روایت کښې دی چه حضرتﷺ د دُعا او فرمائیله او اوئے وئیل هم ته شافی یے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ وَجَرِيرٍ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ (مخکښې حدیث) د ابوعوانه او جریر د حدیث پشان مروی دے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْقِي بِهٰذِهِ الرُّقْيَةِ أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ بِيَدِكَ الشِّفَاءُ لَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا أَنْتَ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ به دا منتر لوستلو اے د خلقو پروردګاره. تکلیف لرے کړه. شفا ستا په لاس کښې ده او د تکلیف لرے کونکے هیڅوک نشته سوا ستا نه

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د هشام نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَرِضَ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِهِ نَفَثَ عَلَيْهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ فَلَمَّا مَرِضَ مَرَضَهُ الَّذِي مَاتَ فِيهِ جَعَلْتُ أَنْفُثُ عَلَيْهِ وَأَمْسَحُهُ بِيَدِ نَفْسِهِ لِأَنَّهَا كَانَتْ أَعْظَمَ بَرَكَةً مِنْ يَدِي وَفِي رِوَايَةِ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ بِمُعَوِّذَاتٍ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه هر کله به زمونږ په کور کښې څوک بیمار شول نو رسول اللهﷺ به په هغه باندے معوّذات (قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس) اولوستل او ورته به ئے شُف کړو. بیا چه هر کله حضرتﷺ بیمار شو په هغه بیارئ چه په هغے کښې ئے وفات اوموندو. نو ما به په هغه باندے شُف کوو او د هغوی لاس به مے په هغوی باندی وهوولے چه د هغوی لاس مبارک څما د لاس نه زیات برکتی وو[1].

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اشْتَكَى يَقْرَأُ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ

د ام المؤمنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ چه به هر کله بیمار شو نو په خپل ځان به ئے معوذتین لوستل او شف کول

[1] نوویؒ وئیلی دی چه دُعا او منتر په قلاره سره لوستل او شُف کول صحیح دی. او د شُف کولو په جواز باندے اجماع ده. او دے ته جمهور صحابۀ او تابعینو مستحب وئیلی دی. او بعضو د شُف کولو او لاړو توکول نه انکار کړے دے. لیکن هغه مراد هغه شف کول دی چه د هغے سره لاړے هم رااوځی. او د روغوندے شف کولو په جواز باندے اجماع ده.

وَيَنْفُثُ فَلَمَّا اشْتَدَّ وَجَعُهُ كُنْتُ أَقْرَأُ عَلَيْهِ وَأَمْسَحُ عَنْهُ بِيَدِهِ رَجَاءَ بَرَكَتِهَا

هر كله چه ډير بيمار شو نو ما به لوستل او د حضرت ﷺ لاس به مې په حضرت ﷺ باندې راښكودو د بركت په اميد سره.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِإِسْنَادِ مَالِكٍ نَحْوَ حَدِيثِهِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ أَحَدٍ مِنْهُمْ رَجَاءَ بَرَكَتِهَا إِلَّا فِي حَدِيثِ مَالِكٍ وَفِي حَدِيثِ يُونُسَ وَزِيَادٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا اشْتَكَى نَفَثَ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَمَسَحَ عَنْهُ بِيَدِهِ

د ابن شهاب نه د مالك په اسناد سره د پورتنى حديث پشان روايت دے. او دد ے حديث يو راوى سوا د مالك نه رَجَاءَ بَرَكَتِهَا نه دے وئيلے. او د يونس او د زياد په حديث كښې دى چه نبى ﷺ به كله بيما ركيدو نو په ځان به ئے معوذات اولوستل خان به دمولو. او خپل لاس مبارك به ئے راښكودو.

بَابُ اسْتِحْبَابِ الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ وَالنَّمْلَةِ وَالْحُمَةِ وَالنَّظْرَةِ

باب: د نظر او نمله او د زهرو دپاره منتر كول مستحب دى

عَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنِ الرُّقْيَةِ فَقَالَتْ رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ بَيْتٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فِي الرُّقْيَةِ مِنْ كُلِّ ذِي حُمَةٍ

د اسود نه روايت دے چه ما د حضرت عائشې رضي الله عنها نه تپوس اوكړو د منتر په باره كښې. هغوى اووے رسول الله ﷺ اجازت وركړے دے د انصارو يو كور والاؤ ته د زهرو دپاره د منتر كولو (لكه د مار يا لړم دپاره)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ بَيْتٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْحُمَةِ

د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دے. رسول الله ﷺ اجازت وركړو د انصارو يو كور والاؤ ته د منتر د زهرو نه

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اشْتَكَى الْإِنْسَانُ الشَّيْءَ مِنْهُ أَوْ كَانَتْ بِهِ قَرْحَةٌ أَوْ جُرْحٌ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِصْبَعِهِ هٰكَذَا وَوَضَعَ سُفْيَانُ سَبَّابَتَهُ بِالْأَرْضِ ثُمَّ رَفَعَهَا بِاسْمِ اللهِ تُرْبَةُ أَرْضِنَا بِرِيقَةِ بَعْضِنَا لِيُشْفَى بِهِ سَقِيمُنَا بِإِذْنِ رَبِّنَا قَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ يُشْفَى وَقَالَ زُهَيْرٌ لِيُشْفَى سَقِيمُنَا

د ام المؤمنين حضرت عائشې رضي الله عنها نه رايت دے چه هر كله به په مونږ كښې څوك ناجوړه شو يا به پرے څهٔ زخم راغے. نو رسول الله ﷺ به خپله د كلمے گوته په زمكه باندے كيښوده او اويه ئے فرمائيل بِسْمِ اللهِ تُرْبَةُ أَرْضِنَا بِرِيقَةِ بَعْضِنَا لِيُشْفَى بِهِ سَقِيمُنَا بِإِذْنِ اللهِ رَبِّنَا (يعنى د الله په نوم سره زمونږ د ملك خاوره زمونږ نه د چا د لاړو سره په دے سره د شفا اومومى زمونږه بيمار د الله په حكم سره) ابن ابى شيبه وئيلى دى يُشْفَى سَقِيمُنَا او د زهير نه لِيُشْفَى سَقِيمُنَا روايت دے.

عَنْ مِسْعَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د مسعر نه په دغه اسناد سره دغسې روايت دے.

عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَأْمُرُنِي أَنْ أَسْتَرْقِيَ مِنَ الْعَيْنِ

حضرت عائشهؓ وائي چه رسول الله ﷺ به ماته حكم فرمائيلو چه د نظر نه د منتر لوستلو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فِي الرُّقَى قَالَ رُخِّصَ فِي الْحُمَةِ وَالنَّمْلَةِ وَالْعَيْنِ

د انسؓ نه روايت دے چه د منتر اجازت شوے دے د زهرو او نمله (يوه بيماري ده چه د هغې نه په پښتو كښې زخم جوړيږي) او د نظر دپاره.

عَنْ أَنَسٍ ؓ قَالَ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ وَالْحُمَةِ وَالنَّمْلَةِ وَفِي حَدِيْثِ سُفْيَانَ يُوْسُفَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ

د انسؓ نه روايت دے چه رخصت وركړے دے رسول الله ﷺ د منتر وئيلو د نظر دپاره او د چيچلى شوى دپاره (د زهرو ويستو) او د نمله دپاره. او د سفيان په حديث كښې (راوى نام) يوسف بن عبد الله بن حارث دے.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ لِجَارِيَةٍ فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ رَأَى بِوَجْهِهَا سَفْعَةً فَقَالَ بِهَا نَظْرَةٌ فَاسْتَرْقُوْا لَهَا يَعْنِي بِوَجْهِهَا صُفْرَةً

د ام المؤمنين ام سلمهؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ د هغوى په كور كښې يو جينۍ اوليده چه د هغې په مخ باندے داغونه وو. حضرت ﷺ اوفرمائيل په دے نظر لګيدلے دے ددے دپاره منتر اوكړئ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ رَخَّصَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِآلِ حَزْمٍ فِي رُقْيَةِ الْحَيَّةِ وَقَالَ لِأَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ مَا لِي أَرَى أَجْسَامَ بَنِي أَخِي ضَارِعَةً تُصِيْبُهُمُ الْحَاجَةُ قَالَتْ لَا وَلٰكِنَّ الْعَيْنَ تُسْرِعُ إِلَيْهِمْ قَالَ ارْقِيْهِمْ قَالَتْ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ ارْقِيْهِمْ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ رخصت وركړے دے د حزم خلقو ته د مار دپاره د منتر كولو. او اسماء بن عميس ته ئې اوفرمائيل څه سبب دے چه زۀ د خپل رور بچى (يعنى د جعفر لو ابوطالب هلكانو لره) كمزورى وينمه ولے دوى اوږى دى. اسماء اووئيل نه دوى زر زر د نظره كيږى حضرت ﷺ اوفرمائيل څۀ منتر كوه. ما يو منتر د حضرت ﷺ په مخكښې اووے. حضرت ﷺ اوفرمائيل كوه.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ أَرْخَصَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رُقْيَةِ الْحَيَّةِ لِبَنِي عَمْرٍو قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ وَسَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ لَدَغَتْ رَجُلًا مِنَّا عَقْرَبٌ وَنَحْنُ جُلُوْسٌ مَعَ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اجازت وركړے دے د مار دپاره د منتر كولو د بنى عمرو خلقو ته او يو سړے زمونږ نه لړم اوچيچلو. دغه وخت مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو. يو سړى اووے يا رسول اللهؐ زۀ منتر اوكړمه حضرت ﷺ ورته

رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَرْقِي قَالَ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَنْفَعَ أَخَاهُ فَلْيَفْعَلْ

اوفرمائیل. ستاسو نه چه څوك د ے خپل رور ته فائده څۀ رسولے شی نو هغه د هغه فائده اورسوی.

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أَرْقِيهِ يَا رَسُولَ اللهِ وَلَمْ يَقُلْ أَرْقِي

د ابن جریج نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے . مګر په دی کښ أَرْقِي (زۀ منتر کوم) په ځائے أَرْقِيهِ (زۀ په دۀ منتر اوکړم) دے.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ لِي خَالٌ يَرْقِي مِنَ الْعَقْرَبِ فَنَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرُّقَى قَالَ فَأَتَاهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ نَهَيْتَ عَنِ الرُّقَى وَأَنَا أَرْقِي مِنَ الْعَقْرَبِ فَقَالَ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَنْفَعَ أَخَاهُ فَلْيَفْعَلْ

د حضرت جابر نه روایت دے چه خما ماما به د لړم منتر کولو بیا رسول الله ﷺ د منتر نه منع اوفرمائیله هغه د حضرت ﷺ خواله راغے او اوئے وئیل یا رسول الله ﷺ تاسو د منتر نه منع اوفرمائیله او زۀ د لړم منتر کوم. حضرت ﷺ اوفرمائیل ستاسو نه چه څوك خپل رور ته فائده رسولے شی نو رسوی دِ ورته.

عَنِ الأَعْمَشِ بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د اعمش نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرُّقَى فَجَاءَ آلُ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ كَانَتْ عِنْدَنَا رُقْيَةٌ نَرْقِي بِهَا مِنَ الْعَقْرَبِ وَإِنَّكَ نَهَيْتَ عَنِ الرُّقَى قَالَ فَعَرَضُوهَا عَلَيْهِ فَقَالَ مَا أَرَى بَأْسًا مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَنْفَعَ أَخَاهُ فَلْيَنْفَعْهُ

د جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د منتر نه منع اوکړه نو عمرو بن حزم خلق د رسول الله ﷺ خواله راغلۀ یا رسول الله ﷺ زمونږ سره یو منتر دے چه مونږه ئے د لړم په چیچلو باندے وایو. او تاسو د منتر منع اوفرمائیله بیا هغوی هغه منتر حضرت ﷺ ته اوویل نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. هیڅ قباحت نشته په تاسو کښ چه خپل رور ته فائده رسولے شی نو هغه د اورسوی.

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الأَشْجَعِيِّ قَالَ كُنَّا نَرْقِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تَرَى فِي ذَلِكَ فَقَالَ اعْرِضُوا عَلَيَّ رُقَاكُمْ لاَ بَأْسَ بِالرُّقَى مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ شِرْكٌ

د عوف بن مالك اشجعی نه روایت دے چه مونږ به د جاهلیت په زمانه کښ منتر کولو مونږه اووے یا رسول الله ﷺ دد ے په باره کښ تاسو څۀ وایئ حضرت ﷺ اوفرمائیل خپل منترونه خما په مخکښ پیش کړئ څۀ قباحت نشته په منتر کښ کچرے په هغے کښ د شرك مضمون نۀ وی

بَاب جَوَازِ أَخْذِ الأُجْرَةِ عَلَى الرُّقْيَةِ بِالْقُرْآنِ وَالأَذْكَارِ

باب : په قرآن یا اذکارو سره منتر کول په هغے باندے أجرت اغستل صحیح دی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوا فِي سَفَرٍ فَمَرُّوا بِحَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ فَاسْتَضَافُوهُمْ فَلَمْ يُضِيفُوهُمْ فَقَالُوا لَهُمْ هَلْ فِيكُمْ رَاقٍ فَإِنَّ سَيِّدَ الْحَيِّ لَدِيغٌ أَوْ مُصَابٌ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْهُمْ نَعَمْ فَأَتَاهُ فَرَقَاهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَبَرَأَ الرَّجُلُ فَأُعْطِيَ قَطِيعًا مِنْ غَنَمٍ فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَهَا وَقَالَ حَتَّى أَذْكُرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ وَاللهِ مَا رَقَيْتُ إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَتَبَسَّمَ وَقَالَ وَمَا أَدْرَاكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ ثُمَّ قَالَ خُذُوا مِنْهُمْ وَاضْرِبُوا لِي بِسَهْمٍ مَعَكُمْ

د ابو سعید خدری ؓ نه روایت دے چه څۀ خلق د رسول الله ﷺ د صحابۀ نه په سفر کښې وو نو د عربو په یوه قبیله باندے تیریدو او د هغوی نه ئے دعوت او غوښتو نو هغوی دعوت ورنۀکړو. بیائے هغوی اووے په تاسو کښې چا ته منتر یاد دے د هغوی سردار لړم چیچلے وو. د صحابۀ نه یو تن اووے آو. ماله منتر راځی. بیا هغه سورۃ فاتحه اولوسته او هغه ښۀ شو او دۀ ته ئے د بزو یو رمه ورکړه. دۀ وانۀ خسته او دائے اووے چه زۀ به د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړم. بیا د حضرت ﷺ خواله راغے. او حضرت ﷺ ته ئے بیان کړو او اوئے وئیل چه یا رسول الله! قسم په خدائے چه ما څۀ منتر نۀ دے کړے سوا دسورۃ فاتحے نه حضرت ﷺ مُسکے شو او اوئے فرمائیل تا ته څنګه معلومه شوه چه هغه منتر دے. بیائے اوفرمائیل چه هغه رَمه د بزو واخله او یوه حصه څما د پاره هم د خپل ځان سره اولګوه.

عَنْ أَبِي بِشْرٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ فَجَعَلَ يَقْرَأُ أُمَّ الْقُرْآنِ وَيَجْمَعُ بُزَاقَهُ وَيَتْفُلُ فَبَرَأَ الرَّجُلُ

د ابی بشر نه په دغه اسناد سره روایت دے او په دے حدیث کښې دی چه هغه سړی سوره فاتحه لوستله او خپلے لاړے به ئے جمع کولے او توکلے به ئے. تر دے پورے چه هغه ښۀ شو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ نَزَلْنَا مَنْزِلًا فَأَتَتْنَا امْرَأَةٌ فَقَالَتْ إِنَّ سَيِّدَ الْحَيِّ سَلِيمٌ لُدِغَ فَهَلْ فِيكُمْ مِنْ رَاقٍ فَقَامَ مَعَهَا رَجُلٌ مِنَّا مَا كُنَّا نَظُنُّهُ يُحْسِنُ رُقْيَةً فَرَقَاهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَبَرَأَ فَأَعْطَوْهُ غَنَمًا وَسَقَوْنَا لَبَنًا فَقُلْنَا أَكُنْتَ تُحْسِنُ رُقْيَةً فَقَالَ مَا رَقَيْتُهُ إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ قَالَ فَقُلْتُ لَا

د ابوسعید خدری ؓ نه روایت دے چه مونږ په یو منزل کښې کوز شو یوه ښځه راغله او اوئے وئیل چه دد ے قبیلے سردار (مار یا لړم) چیچلے دے پتاسو کښې چا له منتر ورځی. یو سړے په مونږ کښې پاځیدو چه د هغۀ مونږ ته پته نۀ وه چه دۀ لره په ښۀ شان سره منتر ورځی. بیا هغه د سورۃ فاتحې منتر اوکړو او هغه ښۀ شو. هغه خلقو دۀ لره بزے ورکړے او په مونږه ئے پئ اوڅښل. مونږه اووے آیا تا لره څۀ ښۀ منتر درتلو. هغۀ اووے ما د سوره فاتحے منتر کړے دے. ما لووے دا بزے دد ے

تُحَرِّكُوهَا حَتَّى نَأْتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَا ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ مَا كَانَ يُدْرِيهِ أَنَّهَا رُقْيَةٌ أَقْسِمُوا وَاضْرِبُوا لِي بِسَهْمٍ مَعَكُمْ

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقَامَ مَعَهَا رَجُلٌ مِنَّا مَا كُنَّا نَأْبِنُهُ بِرُقْيَةٍ

خائے نه مهٔ خوزوه د هغے پورے چه مونږ د رسول الله ﷺ خواله تلی نهٔ یو. بیا مونږ د هغوی خواله لاړو او دا قیصه مو ورته بیان کړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل دهٔ ته څنګه معلومه شوه چه سورة فاتحه منتر دے. او وېشه هغه بزو لره او د خپل ځان سره یوه حصه څما هم اولګوه[1].

د هشام نه په دغه اسناد سره هم دغسے روایت دے مګر په دے کښې دا دی چه د ښځے زمونږ نه یو سړے اودریدهٔ چه هغهٔ مونږ خیال نهٔ کوو چه منتر راځی.

بَابُ اسْتِحْبَابِ وَضْعِ يَدِهِ عَلٰى مَوْضِعِ الْأَلَمِ مَعَ الدُّعَاءِ

باب : د دُعا په وخت خپل لاس د درد په ځائے ایخودل مستحب دی

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ الثَّقَفِيِّ أَنَّهُ شَكَا إِلٰى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا يَجِدُهُ فِي جَسَدِهِ مُنْذُ أَسْلَمَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي تَأَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ وَقُلْ بِاسْمِ اللهِ ثَلَاثًا وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ

د عثمان بن ابی العاص ثقفی رضی نه روایت دے چه هغوی شکایت اوکړو رسول الله ﷺ ته د یو درد په خپل بدن کښې چه دهغهٔ د مسلمانیدو په وخت د هغهٔ په بدن کښې پیدا شوے وو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ته خپل لاس د درد په ځائے باندے کیږده. او درے ځله بسم الله اووایه د بسم الله نه پس اووهٔ ځله دا اووایه أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ یعنی زهٔ پناه غواړم په الله سره او په قدرت د الله تعالی سره د بدئ د هغه څیز نه چه هغے لره ما موندلے دے. او د هغے نه یریږم.

بَابُ التَّعَوُّذِ مِنْ شَيْطَانِ الْوَسْوَسَةِ فِي الصَّلَاةِ

باب : د وسوسے د شیطان نه پناه غوښتل په مانځهٔ کښې

---

[1] : نووی رح وئیلی دی د دے حدیث نه معلومیږی چه په قرآن یا نورو ذکرونو سره کچرے منتر اوکړی نو د هغے اجرت اخستلے شی او دا حلال دی په دے کښې څهٔ کراهت نشته دے. دغه شان په قرآن ښودلو باندے اجرت اخستل صحیح دی د امام شافعی او مالک او اسحق رح دغه قول دے. او د امام ابوحنیفه په نزد د قرآن په تعلیم باندے اجرت اخستل منع دی البته د منتر اجرت صحیح دے. او دا چه کوم حضرت ﷺ اوفرمائیل چه څما حصه هم اولګوئ دائے دهغوی د خوشحالولو دپاره اوفرمائیل لکه څنګه چه د عنبر په حدیث کښې تیر شو او هغه بزے تولے د منتر لوستلو والا حق وو لیکن حضرت ﷺ تبرعًا او مروةً د تولو ملګرو په هغے کښې حصه اوکړه.

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي وَقِرَاءَتِي يَلْبِسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خَنْزَبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ وَاتْفِلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا قَالَ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي

د عثمان بن ابی العاص نه روایت دے چه هغه د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو یا رسول الله شیطان زما په مانځهٔ کښې حائل شی او زما نه قران هیروی حضرت ﷺ اوفرمائیل دا شیطان دے چه ورته خنزب وئیلے شی هر کله چه تا ته دا د شیطان اثر معلوم شی نو په الله تعالی پناه اوغواړه ددهٔ نه او بنی طرفته درے خله اوتوکه (په مانځهٔ کښې دننه) عثمان وائی ما دغه شان اوکړل بیا الله تعالی هغه شیطان زما نه لرے کړو.

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِ سَالِمِ بْنِ نُوحٍ ثَلَاثًا

د عثمان بن ابی العاص نه روایت دے چه هغه راغے د نبی ﷺ خواله پس (مخکښې) د پورتنی پشان حدیث ئے ذکر کړو. او سالم بن نوح (راوی) د ثلاثا (درے خله) ذکر نهٔ دے کړے.

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ

د عثمان بن ابی العاص وئیلی دی چه ما عرض اوکړو یا رسول الله بیائے د پورتنی حدیث پشان روایت کړو.

بَابُ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ وَاسْتِحْبَابِ التَّدَاوِي

باب: د هرے بیمارئ یوه دوائی ده. او دوا کول مستحب دی

عَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ قَالَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَأَ بِإِذْنِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

د جابر نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د هرے بیمارئ یوه دوائی ده. هر کله چه هغه دوائی لورسی نو د الله په حکم سره شفا کیږی[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَادَ الْمُقَنَّعَ ثُمَّ قَالَ لَا

د جابر بن عبدالله نه روایت دے چه هغوی عیادت د مقنع اوکړه بیائے

[1] نووی وائی په دے حدیث کښې اشاره ده چه دوائی کول مستحب دی او دغه مذهب دے زمونږ د صحابو او جمهور سلف او اکثر د خلف خلقو. او دا حدیث د علم طب اصل دے او د طب د جواز دلیل دے. او په دے کښې رد دے د هغه متعصب صوفیانو چه د دوایئ نه انکار کوی او وائی هر څیز د قضا او قدر نه دے نو د دوایئ څهٔ حاجت دے؟ او د عالمانو دلیل دا دے چه هغه اعتقاد لری چه فاعل الله دے او دوائی کول دا هم د تقدیر نه دی او دا داسے دی لکه څنګه چه د دُعا حکم شوے دے او د کافرانو سره د جنګ د قلعه ګانو جوړولو او د خپل خان د هلاکت نه د بچ کولو. حالانکه اجل نهٔ بدلیږی نهٔ په تقدیر کښې تقدیم او تاخیر راځی. او څهٔ چه په مقدر کښې دی هغه ضرور کیدونکی دی انتهی

أَبْرَحُ حَتَّى تَحْتَجِمَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ فِيهِ شِفَاءً

عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ قَالَ جَاءَنَا جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ فِي أَهْلِنَا وَرَجُلٌ يَشْتَكِي خُرَاجًا بِهِ أَوْ جِرَاحًا فَقَالَ مَا تَشْتَكِي قَالَ خُرَاجٌ بِي قَدْ شَقَّ عَلَيَّ فَقَالَ يَا غُلَامُ ائْتِنِي بِحَجَّامٍ فَقَالَ لَهُ مَا تَصْنَعُ بِالْحَجَّامِ يَا أَبَا عَبْدِ اللهِ قَالَ أُرِيدُ أَنْ أُعَلِّقَ فِيهِ مِحْجَمًا قَالَ وَاللهِ إِنَّ الذُّبَابَ لَيُصِيبُنِي أَوْ يُصِيبُنِي الثَّوْبُ فَيُؤْذِينِي وَيَشُقُّ عَلَيَّ فَلَمَّا رَأَى تَبَرُّمَهُ مِنْ ذَلِكَ قَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَدْوِيَتِكُمْ خَيْرٌ فَفِي شَرْطَةِ مِحْجَمٍ أَوْ شَرْبَةٍ مِنْ عَسَلٍ أَوْ لَذْعَةٍ بِنَارٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا أُحِبُّ أَنْ أَكْتَوِيَ قَالَ فَجَاءَ بِحَجَّامٍ فَشَرَطَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ اسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحِجَامَةِ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا طَيْبَةَ أَنْ يَحْجُمَهَا قَالَ

اووے زۀ نۀ حصاریږم د کومے پورے چه تا ته ښکر لونۀ لګوم ځکه چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو په دی کښ شفا ده

د عاصم بن عمرو بن قتاده نه روایت دے چه جابر بن عبد الله انصاری زمونږ کور ته راغے. او یو سړی ته د زخم شکایت وو (یعنی ناسور شوے وو) جابر ترے تپوس اوکړو چه تا ته څۀ شکایت دے. هغۀ اووے یو ځائے مے ناسور شوے چه د هغے نه په ما باندے زیاته سخته ده. جابر اووے. اے غلام! یو ښکر لګولو والا راوله هغۀ اووے د ښکر لګونکی څۀ کار دے. جابر اووے زۀ په دے زخم باندے ښکر لګول غواړمه هغۀ اووے قسم دے په الله باندے چه مچان به ما لره تنګوی. او د کپړو لګیدو سره به راته تکلیف وی او سختی به تیریږی په ما باندے. هر کله چه جابر دا اولیده نو اوئے وئیل چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. ستاسو په دوایانو کښ چه کومه غوره دوائی ده نو هغه دغه درے دوایانے دی یو خو ښکر لګول، دویم د ګبین یو ګوټ، دریم په سکروټو (داغ لګول) سوزول او رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه زۀ داغ لګول غوره نۀ ګنړم. راوی وائی بیا ښکر لګولو والا راغے. او هغۀ ته ئے ښکر اولګوؤ او بیماری ئے ښۀ شوه[1].

د ام المؤمنین ام سلمه نه روایت دے چه هغوی د رسول الله ﷺ نه د ښکر لګولو اجازت اغوښتو. حضرت ﷺ ابوطیبه ته حکم اوکړو هغوی ته د ښکر لګولو دپاره. راوی وائی ابوطیبه د ام سلمه رضاعی رور وو یا نابالغ هلك وو (چه د هغۀ نه پرده ضروری نۀ وه

---

[1] نووی وائی په دے حدیث کښ ډیر مزیدار طب دے. ځکه چه مرضونه امتلائی یا دموی وی یا صفرا وی یا سودا وی یا بلغمی وی کچرے دموی وی نو د هغے علاج په ښکر سره بهتر دے او که د بل قسم مرض وی نو د هغے علاج مسهل دے او ګبین ډیر مزیدار مسهل دے او داغ ورکول آخری علاج دے. هر کله چه په بله څۀ دوایی سره فائده اونۀ شی. انتهی مختصراً

حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ كَانَ أَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ أَوْ غُلَامًا لَمْ يَحْتَلِمْ

او د ضرورت په وخت د دوایئ د پاره پردے سړے هم لګولے شي هر کله چه ښځه یا نابالغ هلك نه وی.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ طَبِيبًا فَقَطَعَ مِنْهُ عِرْقًا ثُمَّ كَوَاهُ عَلَيْهِ

د جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ أبيّ بن کعب ته یو چالاك حکیم اولیږلو. هغه ي رګ پریکړو دیغني وینه ئے اوویسته، بیائے داغ ورکړو هغې له.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرَا فَقَطَعَ مِنْهُ عِرْقًا

د اعمش نه په دغه اسناد سره روایت دے. او په دے کښې د رګ د پریکولو ذکر نشته دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ رُمِيَ أُبَيٌّ يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَى أَكْحَلِهِ فَكَوَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه په أبيّ بن کعب د احزاب په جنګ کښې یو غشے اولګیده. نو رسول الله ﷺ داغ ورکړو هغه له.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ رُمِيَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فِي أَكْحَلِهِ قَالَ فَحَسَمَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ بِمِشْقَصٍ ثُمَّ وَرِمَتْ فَحَسَمَهُ الثَّانِيَةَ

د جابر نه روایت دے چه سعد په اکحل (دا یو رګ دے) باندے اولګیدو. نو رسول الله ﷺ داغ ورکړو هغه له د غشي په څوکه سره پخپل لاس باندے د هغه لاس اوپړسیدو. حضرت ﷺ ورله بیا داغ ورکړو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ وَاسْتَعَطَ

د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ښکر لګولے دے او ښکر لګولو والا ته ئے مزدوری ورکړے ده. او حضرت ﷺ په پوزه کښې هم دوائی اچولی ده (یعنی په پوزه ئے راښکودے ده)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ احْتَجَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ لَا يَظْلِمُ أَحَدًا أَجْرَهُ

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ښکر لګولے دے. او حضرت ﷺ د هیچا نه مزدوری نه ده نیولے (یعنی ورکوله به ئے نو ښکر لګولو والا ئے هم ورکړے ده)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوهَا بِالْمَاءِ

د عبدالله بن عمر نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. تبه د دوزخ د سختې ګرمۍ نه ده نو دے لره یخه کړئ په اوبو سره.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ شِدَّةَ الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوهَا بِالْمَاءِ

د ابن عمر نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه تبه د دوزخ د تپ نه ده. دی لره یخه کړئ په اوبو سره.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَأَطْفِئُوهَا بِالْمَاءِ

د ابن عمرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه تبه د دوزخ د شعلے نه ده نو دے لره مړه کئ په اوبو سره.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوهَا بِالْمَاءِ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی تبه د جهنم د سوزش نه ده نو یخه ئې کړئ په اوبو سره.

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د هشام نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ أَسْمَاءَ أَنَّهَا كَانَتْ تُؤْتَى بِالْمَرْأَةِ الْمَوْعُوكَةِ فَتَدْعُو بِالْمَاءِ فَتَصُبُّهُ فِي جَيْبِهَا وَتَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْرُدُوهَا بِالْمَاءِ وَقَالَ إِنَّهَا مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ

د اسماء نه روایت دے هر کله چه به خوك ښځه د تبے بیماره هغې لره راغله نو هغې به اوبۀ اوغوښتے او د هغې په ګریوان کښې به ئې واړولے. او اوبه ئې وئیل چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یخه وئ دے لره په اوبو سره او فرمائیلی ئې دی چه تبه د جهنم د سختے ګرمۍ نه وی.

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ صَبَّتِ الْمَاءَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ جَيْبِهَا وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ أَنَّهَا مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ قَالَ أَبُو أَحْمَدَ قَالَ إِبْرَاهِيمُ ابْنُ سُفْيَانَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ بِهَذَا

د هشام نه په دغه اسناد سره روایت دے او د ابن نمیر په حدیث کښې دے چه هغوی اوبۀ واچولے د هغۀ او د هغۀ په د ګریوان په مینځ کښې. او د أسامه په حدیث کښې دا ذکر کړے شوے نه دی چه دا د جهنم د تپ د وجے نه ده. ابو احمد وئیلی دی چه ابراهیم بن سفیان وئیلی دی چه مونږ ته ابو اسامه دا حدیث بیان کړو.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ إِنَّ الْحُمَّى فَوْرٌ مِنْ جَهَنَّمَ فَابْرِدُوهَا بِالْمَاءِ

د رافع بن خدیج نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئې وو تبه د جهنم د جوش وهلو نه راځی. نو یخه وئ دے لره په اوبو سره.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ الْحُمَّى مِنْ فَوْرِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوهَا عَنْكُمْ بِالْمَاءِ وَلَمْ يَذْكُرْ أَبُو بَكْرٍ

رافع بن خدیجؓ وئیلی دی چه اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه حضرت فرمائیل چه تبه د جهنم د جوش وهلو نه ده نو دے لره پخپله په اوبو یخه کړئ او ابوبکر د عنکم لفظ نه دے ذکر کړے.

عَنْكُمْ وَقَالَ قَالَ أَخْبَرَنِي رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ

عَنْ عَائِشَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَدَدْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ فَأَشَارَ أَنْ لَا تَلُدُّونِي فَقُلْنَا كَرَاهِيَةَ الْمَرِيضِ لِلدَّوَاءِ فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ لَا يَبْقَى أَحَدٌ مِنْكُمْ إِلَّا لُدَّ غَيْرُ الْعَبَّاسِ فَإِنَّهُ لَمْ يَشْهَدْكُمْ

عَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ أُخْتِ عُكَّاشَةَ بْنِ مِحْصَنٍ قَالَتْ دَخَلْتُ بِابْنٍ لِي عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ فَبَالَ عَلَيْهِ فَدَعَا بِمَاءٍ فَرَشَّهُ قَالَتْ وَدَخَلْتُ عَلَيْهِ بِابْنٍ لِي قَدْ أَعْلَقْتُ عَلَيْهِ مِنَ الْعُذْرَةِ فَقَالَ عَلَامَهْ تَدْغَرْنَ أَوْلَادَكُنَّ بِهَذَا الْعِلَاقِ عَلَيْكُنَّ بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ يُسْعَطُ مِنَ الْعُذْرَةِ وَيُلَدُّ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ

او ونیلی دی چه خبر راکړے دے مونږ ته رافع بن خدیج[1]

د ام المؤمنین حضرت عائشے نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ په خلهٔ مبارکه کښې دوائی واچوله د هغوی په بیمارۍ کښې حضرت ﷺ په اشاره کښې اوفرمائیل خما په خلهٔ کښې دوائی مهٔ غورځوئ مونږ خلقو په خپلو کښې اووے. حضرت ﷺ دبیمارۍ په وجه د دوایۍ نه نفرت کوی (نو په دی باندے عمل کول ضروری نهٔ دی) هر کله چه حضرت ﷺ ته هوش راغے نو اوئے فرمائیل ستاسو د ټولو په خلهٔ کښې د دوائی واچولے شی علاوه د عباس نه چه هغه دلته موجود نهٔ وو (دا سزا ورکړه حضرت ﷺ هغه خلقو ته چا چه د هغوی حکم نهٔ وو منلے)

د ام قیس بنت محصن نه روایت دے چه د عکاشه خوروه، وائی چه ما خپل یو بچے د رسول الله ﷺ خواله یوړو چه هغه ددغه وخته پورے خوراك نهٔ وو خوړلے هغهٔ په حضرت ﷺ باندے متیازے اوکړے. حضرت اوبهٔ اوغوښتے او په هغه ځائے باندے ئے رش کړے. حضرت ام قیس وائی ما بچی داخل کړو په نبی ﷺ باندے چه د هغهٔ حلق ما دباؤ کړے وو (په ګوته سره د غدره په بیمارۍ کښې (غدره د حلق پړسوب دے) حضرت ﷺ اوفرمائیل ولے تالو او حلق د خپل اولاد دباوه وے. ددے ژبې د پاره تهٔ لازم عود هندی میده کوه په دے کښې د اوؤ بیمارو شفا ده یو د پښتۍ د درد د پاره او ددے سفوف یعنی په پوزه راښکودل د ژبې د پاره فائده مند دی

---

[1] نووی وائی په دے حدیث باندے بعضے ملحد اعتراض کوی چه په تبه کښې په یخو اوبو سره لمبل ضروری دی. خکه چه هغه مساماتو لره بندوی او د تبه ګرم والی لره زیاتوی. ددے جواب داد ے چه رسول الله ﷺ د لمبولو حکم نهٔ دے ورکړے بلکه په اوبو سره د یخولو حکم ئے ورکړے دے او هغه ممکن دے په یخو اوبو څښلو سره یا په لاسونو خپو وینځلو سره.او طبیبان متفق دی په دے امر باندے چه په صفراوی تبه کښې یخے اوبهٔ پرے څکول بلك واورے خوړول پرے فائده مند دی اردو کتاب والامترجم وائی چه په انتری تنې تبه کښې ټول ډاکتران لیکی چه په سر باندے ورته واورے ترئ او په بیمار د واورے ټکړے خوروئ ډاکټر رحیم خان صاحب لیکی چه په داسے تبه کښې واوره زیاته فائده ورکوی خکه چه د واورے ټکړے رو رو د بیمار حلق ته لاند کوزیږی او بیما ر ته تسکین راځی.په دے صورت کښې د ملحدانو اعتراض ښکاره جهالت دے او ددے نه داسے معلومیږی چه هغوی پخپله د طب نه ناخبره دی.

او په ذات الجنب کښې دد ے په مخ لګول فائده ورکوي¹.

عَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلِ اللَّاتِي بَايَعْنَ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَهِيَ أُخْتُ عُكَّاشَةَ بْنِ مِحْصَنٍ أَحَدِ بَنِي أَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ قَالَ أَخْبَرَتْنِي أَنَّهَا أَتَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ بِابْنٍ لَهَا لَمْ يَبْلُغْ أَنْ يَأْكُلَ الطَّعَامَ وَقَدْ أَعْلَقَتْ عَلَيْهِ مِنَ الْعُذْرَةِ قَالَ يُونُسُ أَعْلَقَتْ غَمَزَتْ فَهِيَ تَخَافُ أَنْ يَكُونَ بِهِ عُذْرَةٌ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَلَامَهْ تَدْغَرْنَ أَوْلَادَكُنَّ بِهٰذَا الْإِعْلَاقِ عَلَيْكُمْ بِهٰذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ يَعْنِي بِهِ الْكُسْتَ فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ قَالَ عُبَيْدُ اللهِ وَأَخْبَرَتْنِي أَنَّ ابْنَهَا ذَاكَ بَالَ فِي حَجْرِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَدَعَا رَسُولُ اللهِ ﷺ بِمَاءٍ فَنَضَحَهُ عَلَى بَوْلِهِ وَلَمْ يَغْسِلْهُ غَسْلًا

د ام قیس بنت محصن نه روایت دے او دا د مهاجراتو د رومبو ښځو نه وه کومو چه د رسول الله ﷺ نه بیعت کړے وو او د عکاشه خور وه. هغې د رسول الله ﷺ خواله یو بچے رااخستے وو راغله چه هغه غله نۀ وه خوړلے. او د غدره د بیمارئ نه هغوی دهغه حلق دباؤ کړے وو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاسو ولې خپل اولاد ته تکلیف ورکوئ په تالو دباوه ولو او خیږولو سره. (په ګوته یا لرګی سره) تاسو عود هندی یعنی قسط لازم کړئ. په دے کښې د اوو بیمارو علاج دے یو د هغې نه ذات الجنب هم دے. عبید الله وائی ام قیس ؓ ما ته بیان کړے دے چه دغه بچی د رسول الله ﷺ په غیږه کښې متیازے اوکړے حضرت ﷺ اوبۀ اوغوښتے او په خپلو کپړو باندے ئے توئ کړے. او کپړو لره ئے اونۀ وینځلے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُمَا أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلَّا السَّامَ وَالسَّامُ الْمَوْتُ وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ الشُّونِيزُ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په توره دانه کښې شفا ده د هری بیمارئ سوا د مرګ نه. او د تورے دانے نه مراد کلونجی ده¹.

¹ عود هندی ته په عربئ کښې قسط هندی وائی او هندئ کښې اګر دا زیاته فائده منده دوائی ده. په بحر الجواهر کښې دی چه هغه په دریمه درجه کښې ګرم او خشك دی. په زخم باندے اچولو سره زخم اوچوی. او د سر د دردونو دپاره دد ے ضماد فائده ورکوی او د معدے د کمزورئ او اینے دپاره فائده مند دی. نووی وائی کومو خلقو چه په ذات الجنب کښې د قسط ورکولو نه انکار کړے وو د هغوی قول باطل دے. خکه چه پخوانے طبیب دا وائی چه په بلغمی ذات الجنب کښې قسط فائده ورکونکے دے. او دا هم وائی چه د قسط مدر دے د حیض او بولو. او د زهرو اثر لرے کوی او زیاتوی شهوت لره. او چینجی وژنی او کدو دانه هم وژنی هرکله چه دشهدو سره یو ځائے استعمال کړے شی. او داغونه لرے کوی او علاوه دد ے نه ئے نورے هم ډیرے فائدے دی. انتهٰی مختصرا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ عُقَيْلٍ وَفِي حَدِيثِ سُفْيَانَ وَيُونُسَ الْحَبَّةَ السَّوْدَاءَ وَلَمْ يَقُلِ الشُّونِيزُ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے هغوی د نبی ﷺ نه دغسے حدیث بیان کړو څنګه چه د عقیل حدیث دے. او د سفیان او د یونس په حدیث کښې دی توره دانه ده او د کلونجی ذکر نشته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ مَا مِنْ دَاءٍ إِلَّا فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ مِنْهُ شِفَاءٌ[1] إِلَّا السَّامَ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هیڅ یو مرض داسے نشته چه د هغے په کلونجئ کښې شفا نشته سوا د مرګ نه

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا كَانَتْ إِذَا مَاتَ الْمَيِّتُ مِنْ أَهْلِهَا فَاجْتَمَعَ لِذَلِكَ النِّسَاءُ ثُمَّ تَفَرَّقْنَ إِلَّا أَهْلَهَا وَخَاصَّتَهَا أَمَرَتْ بِبُرْمَةٍ مِنْ تَلْبِينَةٍ فَطُبِخَتْ ثُمَّ صُنِعَ ثَرِيدٌ فَصُبَّتِ التَّلْبِينَةُ عَلَيْهَا ثُمَّ قَالَتْ كُلْنَ مِنْهَا فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ التَّلْبِينَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ الْمَرِيضِ تُذْهِبُ بَعْضَ الْحُزْنِ

د ام المؤمنین حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه هر کله به د هغوی په کورونو کښې څوك مړ شو نو ښځے به جمع شوے بیا به لاړے صرف د هغوی کور والا خاص خلق به ئے پاتے کړل دغه وخت به هغو حکم اوکړو د کتوئ د تلبینے (تلبینه، حریره د بهوسو یا د اوړو کله په هغے کښې شهد هم میلاوه وی) بیا به هغه پخه شوه دد ے نه پس به ثرید تیار شو (ډوډئ او شوروا) او تلبینه به ئے په هغے باندے واچوله بیا به هغوی اووے ښځو ته خورئ دے لره.څکه چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو چه تلبینه دبیمار زړۀ لره خوشحالوی او دد ے په خوړلو سره څۀ خفګان کمیږی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أَخِي اسْتَطْلَقَ بَطْنُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْقِهِ عَسَلًا فَسَقَاهُ ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ إِنِّي سَقَيْتُهُ عَسَلًا فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا فَقَالَ لَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ جَاءَ الرَّابِعَةَ فَقَالَ اسْقِهِ عَسَلًا فَقَالَ لَقَدْ سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا فَقَالَ

د ابوسعید خدری ؓ نه روایت دے چه یو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے. او عرض ئے اوکړو چه څما د رور دستونه کیږی. حضرت ﷺ اوفرمائیل په هغه شهد اوڅکوه. هغۀ پړے اوڅښکل بیا راغے او اوئے وئیل په شهد څکولو سره د هغۀ دستونه نور هم زیات شول حضرت ﷺ ورته بیا اوفرمائیل چه شهد پری اوڅکوه.درے خله لاړو راغے. په څلورم خل چه هغه راغے او اوئے وئیل. ما پرے شهد اوڅکول خو دستونه نور هم زیات شو. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله

---

[1] نووی ؒ وائی دغه صحیح ده. او څنے وائی اوړے مراد دے. او څنے وائی بطم مراد دے.د کلونجی تعریف طبیبانو هم ډیر کړے دے لو بیشکه هغه په تولو بیمارو کښې کومے چه بادی بلغمی وی د اکسیر حکم لری او د ګیډے چینجو لره وژنی. نووی وائی په دے حدیث کښې د تولو بیمارو نه مراد د یخنئ بیارئ دی

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ اللّٰهُ وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ فَسَقَاهُ فَبَرَأَ

تعالیٰ رښتونے دے او ستا د رور ګیډه دروغجنه ده.بیا یې هغه شهد اوڅکول او هغه ښه شو[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أَخِي عَرِبَ بَطْنُهُ فَقَالَ لَهُ اسْقِهِ عَسَلًا بِمَعْنَى حَدِيثِ شُعْبَةَ

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه یو سړے د رسول اللهﷺ خواله راغے او اوئے وئیل چه خما د رور د دستونو بیماری ده نو حضرتﷺ اوفرمائیل شهد ورته اوڅښه (مخکښې حدیث ئے بیان کړو) د شعبه د حدیث پشان

بَابُ الطَّاعُوْنِ وَالطِّيَرَةِ وَالْكَهَانَةِ وَنَحْوِهَا

باب : طاعون ، بد پرهیزی او د فال وئیلو بیان

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَسْأَلُ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ مَاذَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الطَّاعُونِ فَقَالَ أُسَامَةُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ الطَّاعُونُ رِجْزٌ أَوْ عَذَابٌ أُرْسِلَ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَوْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ وَ قَالَ أَبُو النَّضْرِ لَا يُخْرِجُكُمْ إِلَّا فِرَارٌ مِنْهُ

د عامر بن سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت دے. چه د هغوی پلار د اسامه بن زید نه تپوس اوکړو چه تاسو څۀ اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه د طاعون به په باره کښې . اسامه اووے حضرتﷺ فرمائیلی دی چه طاعون یو عذاب دے چه په بنی اسرائیلو باندے یا په مخکښې امتونو باندے رالیږلے شوے وو. پس هر کله چه تاسو واورئ چه په یو ملك کښې طاعون دے نو هلته مۀ ځئ او کچرے ستاسو په علاقه کښې طاعون ښکاره شی نو مۀ اوځئ د یرے د هغے نه په تیښته سره[2].

---

[1] . په شهد کښې بالخاصیت شفا ده. پخپله قرآن مجید دے ته شِفَاء للناس وئیلے دے او شهد اګر چه مسهل دےمګر هر کله چه اسهال مادی وی نو د هغے علاج اسهال دے او د شهد نه حاصلیږی په دی واسطه د شهد په څښلو سره ئے دستونه نور هم سوا شو هر کله چه ماده توله اووته نو دستونه اودریدل دا علاج بالکل د طب مطابق دے او کوم ملحد چه په دےباندے اعتراض کړے دے هغه جاهل او بے شعوره دے او مونږ چه کومه د طب مسئله په دے ځائے بیان کړه هغه د دے دپاره نه چه د حدیث تصدیق اوشی بلکه د طب مسئلے تصدیق د حدیث نه کیږی. او کچرے طبیب حدیث ته دروغجن اووائی نو مونږ دغه طبیبانو ته دروغجن او کافر وایو بیا کچرے هغه ، مشاهده سره خپله دعوه ثابته کړی نو مونږ به د حدیث تاویل کوؤ او د هغے مطلب به صحیح بیانوؤ (نوویؒ مع زیادة)

[2] . نوویؒ وائی طاعون یوه دانه ده چه په ځنګل یا ترخ یا لاس یا ګوتو یا په بدن کښې یا په بل ځائے راخیژی او د هغے سره پړسوب او درد او سوزیدل او خفګان یعنی زړۀ درزیدل او قے لازم وی. خلیل وئیلی دی وبا هم طاعون ته وئیلے شی او هره وبا یو عام مرض دے. لو صحیح داده چه وبا هغه مرض دےچه چرته په و ملك کښې په کثرت سره ښکاره شی او په بل ملك کښې نه وی نو طاعون وبا ده. او هره وبا طاعون نه دے او هغه وبا کومه چه د حضرت عمر فاروقؓ په زمانه مبارکه کښې په شام کښې راغلے وه هغه طاعون وو کومے ته چه

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُونُ آيَةُ الرِّجْزِ ابْتَلَى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهِ نَاسًا مِنْ عِبَادِهِ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ فَلَا تَدْخُلُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَفِرُّوا مِنْهُ هٰذَا حَدِيثُ الْقَعْنَبِيِّ وَقُتَيْبَةُ نَحْوَهُ	د اسامه بن زید نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی طاعون د عذاب نخښه ده په کوم سره چه الله تعالی په خپلو بعضو بندیګانو باندے ازمیښت کړے دے. پس هر کله چه تاسو واورئ چه په یو ملك کښ طاعون ښکاره شوے دے نو هلته مه ورځئ او هر کله چه تاسو هلته يئ نو د هغه ځائے نه مه تښتئ.
عَنْ أُسَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ	اسامه ؓ وئیلی دی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دا طاعون د عذاب په

طاعون عمواس وئیلے شی او د هغے بیان د کتاب په مقدمه کښ تیر شوے دے اوس طاعون په نورو امتونو باندے عذاب وو لیکن هغه د مسلمانانو دپاره رحمت او شهادت دے په صحیحین کښ دی چه څوك په طاعون سره مړ شی هغه شهید دے او په یو حدیث کښ دی چه څوك په طاعون کښ صبر اوکړی او د خپل ښهر نه اونه تختی د الله تعالی په تقدیر باندے اعتماد اوکړی هغه ته د شهید ثواب میلاویږی او د طاعون د ویرے نه تښتیدل منع دی حضرت عائشے وائی تښتیدونکے د طاعون نه داسے دے لکه څوك چه د کافرو د مقابلے نه اوتښتی او ځنے خلقو د طاعون نه تښتیدل او کوم ځائے کښ چه طاعون وی هلته تلو ته صحیح وئیلی دی او د ابوموسی اشعری او مسروق او د اسود بن هلال نه منقول دی چه هغه د طاعون نه تښتیدلے وو او عمرو بن عاص وئیلی دی دے عذاب نه تښتئ د غرونو میدانونو او کندوونو ته. معاذ وائی دا خو شهادت دے او رحمت دے. او هغه خلقو د حدیث تاویل کړے دے چه دا ممانعت د مصلحت نه دے دے دپاره چه خلق دا اونه ګڼړی چه د راغلو خلقو په وجه سره هلاك شو او تښتیدونکی د تښتیدو په وجه سره بچ شو او هغه داسے دے لکه ممانعت د شګون اخستلو او د جذامی خواله د ورتلو. ابن مسعود وئیلی دی طاعون فتنه ده د مقیم دپاره او د تښتیدونکی دپاره. د مقیم دپاره خو دے وجے نه چه هغه به وائی زهٔ اونه تختیدم په دے وجه هلاك شوم او د تښتیدونکی دپاره د دے وجے نه چه هغه به وائی زهٔ اوتختیدم په دے وجه سره بچ شوم. او دغه مذهب صحیح دے چه د طاعون ملك ته تلل او د هغه ځائے نه تښتیدل دواړه منع دی او په حدیث کښ دا امر صفا موجود دے. البته د څه یو بل کار یا ضرورت دپاره تلل او وتل صحیح دی (نووی)

اردو کتاب والا مترجم وائی د طاعون یا د وبا نه تښتیدل د نفس د کمزورتیا او سفاهت دلیل دی. ځکه چه سبب د مرګ څهٔ په طاعون سره منحصر نهٔ دے بلکه د مرګ اسباب دومره ډیر بے شماره دی چه انسان په ماهیت کښ هم بچ کیدے نهٔ شی. او مرګ خو د انسان په ماهیت کښ داخل دے. دے نه تیښته کول زمونږه څومره لویه بے وقوفی ده. ځکه چه حکیمانو د انسان تعریف دا کړے دے حیوان ناطق مائت. بیاځهٔ چه زمونږ په ماهیت کښ داخل دی د هغے نه تښتیدل زمونږه څومره غټه بے وقوفی ده. الله تعالی فرمائیلی دی قُلْ لَنْ يَنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ إِنْ فَرَرْتُمْ مِنَ الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ وَإِذًا لَا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا اووایه اے محمد ﷺ د مرګ یا د قتل نه (بل ځائے ته) تښتیدل به څهٔ فائده در نهٔ کړی او کهٔ بالفرض بچ هم شئ نو څو ورځے به نور ژوندی یئ بیا به آخر مړهٔ کیدل وی. عقل سلیم دا وائی چه کهٔ څوك د زرو کالو پورے هم په دنیا کښ پاتے شی بیا به هم د دنیا په ژوند باندے موړ نهٔ شی او مرګ به هم هغه شان ورته ناخوښه وی. ځکه چه د هغهٔ د خیال زیلے د ړومبی نه پریکول ضروری دی. او د مرګ دپاره باعمله تیارو اوسیدل عین عقل او شعور دے (او د عقل او شعور نه بغیر انسان د انسانیت د دائرے بهر دے.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذَا الطَّاعُونَ رِجْزٌ سُلِّطَ عَلٰى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ أَوْ عَلٰى بَنِي إِسْرَائِيلَ فَإِذَا كَانَ بِأَرْضٍ فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا فِرَارًا مِنْهُ وَإِذَا كَانَ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوهَا

طور تاسو نه مخکښې په یو امت باندے یا د اوڼے فرمائیل په بنی اسرائیلو مسلط کړے شوے وو. نو کچرې دا په هغه ځائے کښې وی چه کوم ځائے تاسو موجود یئ نو د هغه ځائے نه مه اوځئ؛ د هغے نه د بچ کیدو دپاره او کچرے دا په بل ځائے کښې وی نو مه ورځئ؛ وربانده ے

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ عَنِ الطَّاعُونِ فَقَالَ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ أَنَا أُخْبِرُكَ عَنْهُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ عَذَابٌ أَوْ رِجْزٌ أَرْسَلَهُ اللّٰهُ عَلٰى طَائِفَةٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَوْ نَاسٍ كَانُوا قَبْلَكُمْ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوهَا عَلَيْهِ وَإِذَا دَخَلَهَا عَلَيْكُمْ فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا فِرَارًا

د عامر بن سعد نه روایت دے چه یو سړی د سعد بن ابی وقاص نه د طاعون په باره کښې تپوس اوکړو اُسامه بن زید اووے زهٔ تاسو ته ددے په باره کښې بنایم چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دا یو عذاب یا تنبیهه وه د الله تعالی د طرفنه د بنی اسرائیلو یو جماعت دپاره یا ستاسو نه مخکښې څهٔ خلقو دپاره. پس هر کله چه د یو ځائے په باره کښې معلوم وی نو هلته مهٔ ځئ او هر کله چه ستاسو ځائے ته راشی نو بیا د هغے نه د بچ کیدو دپاره د هغه ځائے نه مهٔ اوځئ؛

عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ بِإِسْنَادِ ابْنِ جُرَيْجٍ نَحْوَ حَدِيثِهِ

عمرو بن دینار د ابن جریج د اسناد نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے.

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ هٰذَا الْوَجَعَ أَوِ السَّقَمَ رِجْزٌ عُذِّبَ بِهِ بَعْضُ الْأُمَمِ قَبْلَكُمْ ثُمَّ بَقِيَ بَعْدُ بِالْأَرْضِ فَيَذْهَبُ الْمَرَّةَ وَيَأْتِي الْأُخْرَى فَمَنْ سَمِعَ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا يَقْدَمَنَّ عَلَيْهِ وَمَنْ وَقَعَ بِأَرْضٍ وَهُوَ بِهَا فَلَا يُخْرِجَنَّهُ الْفِرَارُ مِنْهُ

د اسامه بن زیدؓ نه راویت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دا بیماری عذاب دے چه ستاسو نه مخکښې په یو امت راغلے وه پس هغه په زمکه کښې پاتے شو. کله ځئ؛ که بیا راځئ؛ پس هر هغه څوک چه واوری چه یو ملك کښې طاعو دے نو هلته د نهٔ ځی. او هر کله چه ددوی په ملك کښې طاعون ښکاره شی د هغه ځائے نه د ، تښتی هم نه.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ يُونُسَ نَحْوَ حَدِيثِهِ

د زهری نه د یونس په اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے

عَنْ حَبِيبٍ قَالَ كُنَّا بِالْمَدِينَةِ فَبَلَغَنِي أَنَّ الطَّاعُونَ قَدْ وَقَعَ بِالْكُوفَةِ فَقَالَ لِي عَطَاءُ بْنُ يَسَارٍ وَغَيْرُهُ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حبیب نه روایت دے چه موږ په مدینه کښې وو ما ته خبر راورسیدو چه په کوفه کښې طاعون ښکاره شوے دے نو عطاء بن یسار او نورو خلقو ما ته اووے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه تهٔ په یو ملك

عليهِ وسلّمَ قَالَ إِذَا كُنْتَ بِأَرْضٍ فَوَقَعَ بِهَا فَلَا تَخْرُجْ مِنْهَا وَإِذَا بَلَغَكَ أَنَّهُ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلْهَا قَالَ قُلْتُ عَمَّنْ قَالُوا عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ يُحَدِّثُ بِهِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَقَالُوا غَائِبٌ قَالَ فَلَقِيتُ أَخَاهُ إِبْرَاهِيمَ بْنَ سَعْدٍ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ شَهِدْتُ أُسَامَةَ يُحَدِّثُ سَعْدًا قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ هَذَا الْوَجَعَ رِجْزٌ أَوْ عَذَابٌ أَوْ بَقِيَّةُ عَذَابٍ عُذِّبَ بِهِ أُنَاسٌ مِنْ قَبْلِكُمْ فَإِذَا كَانَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا وَإِذَا بَلَغَكُمْ أَنَّهُ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوهَا قَالَ حَبِيبٌ فَقُلْتُ لِإِبْرَاهِيمَ أَنْتَ سَمِعْتَ أُسَامَةَ يُحَدِّثُ سَعْدًا وَهُوَ لَا يُنْكِرُ قَالَ نَعَمْ

كښې نے او په هغه ځائے باندے طاعون شروع شی نو مه تښته د هغه ځائے نه او هر كله چه تا ته خبر دراورسی چه په ي وملك كښې طاعون شروع كيدونكے دے نو هلته مه ځې: ما اووے دا حديث تا د چا نه اوريدلے دے هغوی اووے د عامر بن سعد نه زۀ د هغوی خواله لاړم خلقو راته اووے چه هغه نشته دے زۀ د هغۀ د رور ابراهيم بن سعد سره ميلاؤ شوم د هغوی نه مے تپوس اوكړو. هغوی اووے زۀ موجود وم هر كله چه اسامه سعد ته حديث بيان كړو چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئےوو دا بيماری عذاب دے يا بقيه د عذاب ده چه په ړومبو خلقو راغلے وو پس هر كله چه دا بيماری په يو ملك كښې شروع وی او تۀ هلته موجود ئے نو د هغه ځائے نه چرته مه خه او هر كله چه تاسو ته خبر دراورسی چه په يو ملك كښې دغه بيماری شروع شوے ده نو هلته مه ځې: حبيب وائی ما د ابراهيم نه تپوس اوكړو چه تا اوريدلی دی هر كله چه اسامه دا حديث بيانوۀ سعد ته او هغوی انكار نۀوو كړے. ابراهيم اووے ما اوريدلی دی

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ قِصَّةَ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ فِي أَوَّلِ الْحَدِيثِ

د شعبه نه په دغه اسناد سره روايت دے. مګر په دے كښې د عطاء بن يسار قصه په شروع د حديث كښې ذكر كړے شوے نۀ ده

عَنْ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ وَخُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالُوا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ شُعْبَةَ

سعد بن مالك او خزيمه بن ثابت او اسامه بن زيد رضی الله عنهم وئيلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی (مخكښې حديث) د شعبه د حديث هم معنی

عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ كَانَ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَسَعْدٌ جَالِسَيْنِ يَتَحَدَّثَانِ فَقَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

ابراهيم بن سعد بن ابی وقاص وئيلی دی چه اسامه بن زيد او سعد دواړه ناست وو خبرے ئے كولے او دواړو اووے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی (مخكښې مضمون) د پورتنی راويانو د حديث پشان

عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

ابراهیم بن سعد بن مالك د خپل پلار نه هغوی د نبی ﷺ نه د پورتنو راویانو د حدیث پشان حدیث روایت کړو

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ خَرَجَ إِلَى الشَّامِ حَتَّى إِذَا كَانَ بِسَرْغَ لَقِيَهُ أَهْلُ الْأَجْنَادِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ وَأَصْحَابُهُ فَأَخْبَرُوهُ أَنَّ الْوَبَاءَ قَدْ وَقَعَ بِالشَّامِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ عُمَرُ ادْعُ لِي الْمُهَاجِرِينَ الْأَوَّلِينَ فَدَعَوْتُهُمْ فَاسْتَشَارَهُمْ وَأَخْبَرَهُمْ أَنَّ الْوَبَاءَ قَدْ وَقَعَ بِالشَّامِ فَاخْتَلَفُوا فَقَالَ بَعْضُهُمْ قَدْ خَرَجْتَ لِأَمْرٍ وَلَا نَرَى أَنْ تَرْجِعَ عَنْهُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ مَعَكَ بَقِيَّةُ النَّاسِ وَأَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَرَى أَنْ تُقْدِمَهُمْ عَلَى هَذَا الْوَبَاءِ فَقَالَ ارْتَفِعُوا عَنِّي ثُمَّ قَالَ ادْعُ لِي الْأَنْصَارَ فَدَعَوْتُهُمْ لَهُ فَاسْتَشَارَهُمْ فَسَلَكُوا سَبِيلَ الْمُهَاجِرِينَ وَاخْتَلَفُوا كَاخْتِلَافِهِمْ فَقَالَ ارْتَفِعُوا عَنِّي ثُمَّ قَالَ ادْعُ لِي مَنْ كَانَ هَاهُنَا مِنْ مَشْيَخَةِ قُرَيْشٍ مِنْ مُهَاجِرَةِ الْفَتْحِ فَدَعَوْتُهُمْ فَلَمْ يَخْتَلِفْ عَلَيْهِ رَجُلَانِ فَقَالُوا نَرَى أَنْ تَرْجِعَ بِالنَّاسِ وَلَا تُقْدِمَهُمْ عَلَى هَذَا

د عبد الله بن عباس ؓ نه روایت دے چه حضرت عمر ؓ په طرف اووتو هر کله چه سرغ ته اورسیدو (سر د غام سره متصل د حجاز په غاړه باندے یوه علاقه ده) د هغوی سره د اجناد خلقو ملاقات اوکړو (د اجناد نه مراد د شام پنځۀ ښارونه دی فلسطین او اردن او د مشق او حمص او قنسرین) ابو عبیده بن الجراح او د هغوی ملګرو هغوی ته بیان اوکړو چه د شام په ملك کښې وبا راغلے ده. حضرت عمر ؓ اووے مهاجرین اولین ځما مخے ته راولئ (مهاجرین هغه خلق دی اولین چا چه د دواړو قبلو په طرف باندے مونځ کړے وی) ابن عباس ؓ وائی ما هغوی رااوغوښتل. حضرت عمر ؓ د هغوی نه مشوره واخسته او هغوی ته ئے بیان اوکړو چه د شام په ملك کښې وبا خوره شوے ده هغوی اختلاف اوکړو. بعضو اووے ستا سره هغه خلق دی چه د رومبو نه باقی پاتے شوی دی په صحابؤ د رسول الله ﷺ کښې او مونږ مناسب نۀ ګڼړو د هغوی یو وبائی ملك ته بوتلل. حضرت عمر ؓ اووے ښه ده اوس تاسو خلق لاړ شئ بیائے اووے د انصارو خلق رااوغواړئ ما هغوی رااوغوښتل. حضرت عمر ؓ مشوره واخسته د هغوی نه انصار هم د مهاجرینو په قدم لاړل او د هغوی پشان اختلاف ئے اوکړو. حضرت عمر ؓ اووے اوس تاسو خلق لاړ شئ بیائی اووے اوس د قریشو بوډاګان رااوغواړئ چه د فتح مکے نه مخکښې (یا د فتح سره) مسلمانان شوی دی. ما هغوی رااوغوښتل په هغوی کښې یو هم اختلاف اونۀ کړو. او ټولو دا اووے مونږ مناسب ګڼړو چه تاسو د خلقو سره واپس لاړ شئ او دوی د وبا مخے ته مۀ بوځه آخر حضرت عمر ؓ آواز

الْوَبَاءِ فَنَادَى عُمَرُ فِي النَّاسِ إِنِّي مُصْبِحٌ عَلَى ظَهْرٍ فَأَصْبِحُوا عَلَيْهِ فَقَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ أَفِرَارًا مِنْ قَدَرِ اللهِ فَقَالَ عُمَرُ لَوْ غَيْرُكَ قَالَهَا يَا أَبَا عُبَيْدَةَ وَكَانَ عُمَرُ يَكْرَهُ خِلاَفَهُ نَعَمْ نَفِرُّ مِنْ قَدَرِ اللهِ إِلَى قَدَرِ اللهِ أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَتْ لَكَ إِبِلٌ فَهَبَطَتْ وَادِيًا لَهُ عُدْوَتَانِ إِحْدَاهُمَا خَصْبَةٌ وَالأُخْرَى جَدْبَةٌ أَلَيْسَ إِنْ رَعَيْتَ الْخَصْبَةَ رَعَيْتَهَا بِقَدَرِ اللهِ وَإِنْ رَعَيْتَ الْجَدْبَةَ رَعَيْتَهَا بِقَدَرِ اللهِ قَالَ فَجَاءَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ وَكَانَ مُتَغَيِّبًا فِي بَعْضِ حَاجَتِهِ فَقَالَ إِنَّ عِنْدِي مِنْ هَذَا عِلْمًا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلاَ تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلاَ تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ قَالَ فَحَمِدَ اللهَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ثُمَّ انْصَرَفَ

اوکړو په خلقو کښې چه زه به سحر په اوښ سوریږم (او مدینې ته به واپس کیږم) ددې په اوریدو سره صبا سحر خلق هم سوارهٔ شول ابوعبیده بن الجراحؓ اووې. آیا د تقدیر نه تیښته کوې. حضرت عمرؓ اووې کاش چه دا خبره چا بل چا کړې وې (یا کچرې بل چا ونیلې وې نو هغهٔ به ورله سزا ورکړې وه) او حضرت عمرؓ د خپلې خبرې په خلاف کولو بد اوګڼړل آو مونږ تیښته کوو د الله تعالی د تقدیر نه د الله د تقدیر په طرف کچرې ستا سره اوښ وی او ته یوې وادئ ته لاړ شې چه د هغې دوه غاړې وی یوه غاړه شنه او تازه وی او دویمه اوچه او خرابه وی او ته خپلو اوښانو لره په شنه او تازه طرف کښې څروې. نو د الله تعالی په تقدیر سره د اوڅرول او کچرې په اوچه او خراب طرف کښې ئې څروې نو هغه هم د اللهؓ په تقدیر سره څروې (مطلب د حضرتؓ دا دې چه لکه څنګه چه په دغه څرونکی باندې الزام نشته دې بلکه د هغهٔ کار د تعریف قابل دې چه څناورو ته ئې آرام ورکړو. دغه شان زهٔ هم د خپل رعیت څرونکې یم نو کوم ملك را ته ښهٔ معلومیږی هلته به ئې بیا یم او دا کار د تقدیر خلاف نهٔ دې بلکه عین تقدیر الٰهی دې) په دې کښې عبد الرّحمٰن بن عوفؓ راغې. او هغه د څهٔ کار د پاره تلې وو. هغوی اووی خما سره خو ددې مسئلې دلیل موجود دې. ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئې وو. هر کله چه تاسو واورئ چه په یو ملك کښې وبا ده نو هلته مهٔ ځئ او هر کله چه ستاسو په ملك کښې وبا خوره شی نو تیښته هم مهٔ کوئ ددې په اوریدو سره حضرت عمرؓ د الله پاك شکر ادا کړو (چه خپل رائې ئې د حدیث موافق اوموندهٔ) او واپس شو[1].

[1] ددې حدیث نه دا معلومه شوه چه د بلا نه حتی المقدور پرهیز کول او احتیاط ساتل د توکل او تسلیم نه خلاف نهٔ دی مګر هر کله

عَنْ مَعْمَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكٍ وَزَادَ فِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ قَالَ وَقَالَ لَهُ أَيْضًا أَرَأَيْتَ أَنَّهُ لَوْ رَعَى الْجَدْبَةَ وَتَرَكَ الْخَصْبَةَ أَكُنْتَ مُعَجِّزَهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَسِرْ إِذًا قَالَ فَسَارَ حَتَّى أَتَى الْمَدِينَةَ فَقَالَ هٰذَا الْمَحِلُّ أَوْ قَالَ هٰذَا الْمَنْزِلُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى

د معمر نه په دغه اسناد سره د مالك د حديث پشان روايت دے. او دمعمر په حديث كښ دا زياته ده چه حضرت عمرؓ ابوعبيدهؓ ته اووے اے ته پوهيږے كچرے هغه ئے په اوچه او خرابه حصه كښ او څروى او ښۀ غاړه پريږدى نو ته به په هغه باندے الزام لګوے؟ ابوعبيده اووے بيشكه حضر عمرؓ اووے نو ځئ. بيا هغه لاړو تردے پورے چه مدينے ته اورسيدو حضرت عمرؓ اووے دا ځائے دے يا منزل دے كچرے الله غواړى.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الْحَارِثِ حَدَّثَهُ وَلَمْ يَقُلْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ

د ابن شهاب نه په دغه اسناد سره روايت دے. مګر په دے كښ دى عبد الله بن حارث دۀ ته حديث بيان كړو او عبد الله بن عبدالله ئے اونۀ وے

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ أَنَّ عُمَرَ خَرَجَ إِلَى الشَّامِ فَلَمَّا جَاءَ سَرْغَ بَلَغَهُ أَنَّ الْوَبَاءَ قَدْ وَقَعَ بِالشَّامِ فَأَخْبَرَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ فَرَجَعَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ مِنْ سَرْغَ وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّ عُمَرَ إِنَّمَا انْصَرَفَ بِالنَّاسِ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ

د عبدالله بن عامر بن ربيعه نه روايت دے چه حضرت عمرؓ د شام په طرف اووتو. هركله سرغ ته اورسيدو نو خبر ورته اوشو په شام كښ د وبا د خوريدو. عبد الرّحمٰن بن عوف هغوى ته اووے چه رسول اللهﷺ فرمائيلى دى. هر كله چه تاسو واورئ چه په يو ملك كښ وبا خوره شوے ده نو هلته مۀ ځئ او هر كله چه په يو ملك كښ وبا خوره شى او تاسو هلته يئ نو مۀ ځئ د وبا نه تيښته مۀ كوئ ددے په اوريدو حضرت عمرؓ د سرغ نه واپس راغے. ابن شهاب د سالم بن عبد الله نه روايت دے چه حضرت عمرؓ د خلقو سره واپس شو د عبد الرّحمٰن بن عوفؓ د حديث په اوريدو سره.

بَاب لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَلَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ وَلَا نَوْءَ وَلَا غُولَ وَلَا يُورِدُ

باب: بيمارى لګيدل او بدشګونى او هامه او صفر او نوء او غول دا ټول بے فائدے دى او بيمار

چه بلا نازله شى نو دغه وخت صبر اوسكوت او دعا لازم ده. دا دنۀ وائى چه ما دا فلانے كار اوكړو يا مے او نۀ كړو په دے وجه دا مصيبت راغے

مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ

لره د روغ په خوا کښې مهٔ اړدئ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ حِينَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوَى وَلَا صَفَرَ وَلَا هَامَةَ فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ يَا رَسُولَ اللهِ فَمَا بَالُ الْإِبِلِ تَكُونُ فِي الرَّمْلِ كَأَنَّهَا الظِّبَاءُ فَيَجِيءُ الْبَعِيرُ الْأَجْرَبُ فَيَدْخُلُ فِيهَا فَيُجْرِبُهَا كُلَّهَا قَالَ فَمَنْ أَعْدَى الْأَوَّلَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے هر کله چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل د بیمارئ لګیدل څهٔ شے نهٔ دے او د صفراء او هامه څهٔ اصل نشته نو یو بانډیچی اووے یا رسول الله! د اوښانو څهٔ حال دے چه په خاوره کښې داسے صفا کیږی لکه هوسئ بیا چه هر کله یو خارښ والا اوښ راشی او په هغوی کښې داخل شی او څی نو هغه نور ټول خارښ والا کړی حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه رومبے اوښ چا خارښتی کړے دے[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَلَا صَفَرَ وَلَا هَامَةَ فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ يَا رَسُولَ اللهِ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه نهٔ د یو نه بل ته د بیمارئ د لګیدو څهٔ بنیاد شته . نهٔ بدشګونئ او صفر او هامه څهٔ څیز دے. نو یو بانډیچی اووے یا رسول الله! (مخکښې حدیث ئے بیان کړو) د یونس (راوی) د حدیث پشان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوَى فَقَامَ أَعْرَابِيٌّ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ وَصَالِحٍ وَعَنْ شُعَيْبٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي السَّائِبُ بْنُ يَزِيدَ ابْنُ أُخْتِ نَمِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه عدوی څهٔ څیز نهٔ دے. نو یو اعرابی اودریدهٔ (مخکښې) د یونس د حدیث پشان ئے ذکر کړو. او شعیب د زهری نه روایت کړے دے. هغوی اووے چه ما ته حدیث بیان کړے دے سائب بن یزیدؓ چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه نهٔ د یو نه بل ته بیماری لګیدل څهٔ څیز دے، نهٔ

---

[1] نوویؒ وئیلی دی په بل روایت کښې داسے ده چه بیمارو اوښانو لره د روغ خواله مهٔ بوځئ: په دے دواړو حدیثونو کښې ئے جمع داسے کړے ده چه بیمارئ لګیدو لره چه ئے کوم حدیث کښې نفی کړے ده د هغے نه مراد نفی ده. د هغهٔ اعتقاد چه د جاهلیت والاؤ وو چه بیماری پخپله راځی بغیر د فعلِ الهیٔ نه او په کوم کښې چه ئے بیمار د صحت مند سره د یو ځائے کولو نه منع کړے دے په دی کښې ئے د احتیاط او پرهیز طریقه ښودلے ده چه په کوم فعل کښې اکثر ضرر راځی اګر کهٔ ضرر په حکم د الهی دے هغے لره نهٔ دی کول پکار او بعضو وئیلی دی چه دویم حدیث منسوخ دے د لاعدوی په حدیث سره او دا غلطه ده او د صفر نه مراد دا دے چه مشرک به د محرم لره صفر پورے مؤخر کولو دا غلطه ده یا صفر به ئے یو د ګیډے چینجے ګڼړلو او دغه دواړه اعتقادونه باطل او غلط دی یا صفر لره به ئے منحوس ګڼړل لکه څنګه چه اوس هم جاهل او بے وقوف صفر لره تیره تیزی کوی او په صفر کښې څهٔ د خوشحالئ کار نهٔ کوی او د هامه نه مراد ګونګے دے لره به د عربو خلقو منحوس ګڼړلو یا به ئے دا ګڼړله چه د مړی د روح نه د هامه مرغئ شکل جوړیږی (انتهی مختصراً مع زیادة)

عدوى ولا صفر ولا هامة

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى وَيُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُورِدُ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ كَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُهُمَا كِلْتَيْهِمَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَمَتَ أَبُو هُرَيْرَةَ بَعْدَ ذٰلِكَ عَنْ قَوْلِهِ لَا عَدْوَى وَأَقَامَ عَلَى أَنْ لَا يُورِدُ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ قَالَ فَقَالَ الْحَارِثُ بْنُ أَبِي ذُبَابٍ وَهُوَ ابْنُ عَمِّ أَبِي هُرَيْرَةَ قَدْ كُنْتُ أَسْمَعُكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ تُحَدِّثُنَا مَعَ هٰذَا الْحَدِيثِ حَدِيثًا آخَرَ قَدْ سَكَتَّ عَنْهُ كُنْتَ تَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوَى فَأَبَى أَبُو هُرَيْرَةَ أَنْ يَعْرِفَ ذٰلِكَ وَقَالَ لَا يُورِدُ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ فَمَا رَآهُ الْحَارِثُ فِي ذٰلِكَ حَتّٰى غَضِبَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَرَطَنَ بِالْحَبَشِيَّةِ فَقَالَ لِلْحَارِثِ أَتَدْرِي مَاذَا قُلْتُ قَالَ لَا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ قُلْتُ أَبَيْتُ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ وَلَعَمْرِي لَقَدْ كَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُنَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى فَلَا أَدْرِي أَنَسِيَ أَبُو

صفر او هامه څۀ څیز دے

د ابوسلمه بن عبد الرحمن بن عوف نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بیماری نۀ لګی او ابوسلمهؓ دا حدیث بیانولو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مۀ راولئ بیمار اوښ د روغ خواله ابوسلمهؓ وائی ابوهریرهؓ به دا دواړه حدیثونه د رسول الله ﷺ نه روایت کول بیا روستو ددے نه هغوی دا حدیث چه بیماری نۀ لګی دا بیانول ئے پریخودل او دا به ئے بیانول چه مۀ راولئ بیمار اوښ په روغ اوښ باندے نو حارث بن ابی ذباب چه د ابوهریرهؓ د تره خوئ وو هغوی ته اووے اے ابوهریرهؓ مونږ به اوریدلو چه تا به ددے حدیث سره یو بل حدیث بیانولو. اوس ته هغے لره نۀ بیانوے. هغه دا حدیث دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بیماری (یو نه بل ته) نۀ لګی. ابوهریرهؓ انکار اوکړو او اوئے وئیل ما ته دا حدیث نۀ دے معلوم البته حضرت ﷺ دا فرمائیلی دی چه مۀ راولئ بیمار اوښ په روغ اوښ باندے. حارث د هغوی سره جهګړه اوکړه په دی باندے ابوهریرهؓ غصه شو او د حبشو په ژبه کښ ئے څۀ اووے بیائے د حارث نه تپوس اوکړو ته پوهه شوے چه ما څۀ اووے. حارث اووے نه ابوهریرهؓ اووے ما دغه اووے چه زۀ انکار کوم ددے حدیث د بیانولو نه ابوسلمه اووے خما په عمر قسم دے چه ابوهریره به مونږ ته دا حدیث بیانولو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بیماری لګیدل څۀ شے نۀ دے بیا نۀ ده معلومه چه د ابوهریره نه دا حدیث هیر شو یا ئے یو حدیث په بل حدیث سره

هُرَيْرَةَ أَوْنَسَخَ أَحَدُ الْقَوْلَيْنِ الْآخَرَ

منسوخ اوګنړلو[1]

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى وَيُحَدِّثُ مَعَ ذٰلِكَ لَا يُورِدُ الْمُمْرِضُ عَلَى الْمُصِحِّ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ

ابوسلمه بن عبد الرحمن وئيلي دي چه هغوی اووے ابوهريرة ته هغهٔ به حديث بيانولو چه فرمائيلي دی رسول الله ﷺ چه د يو نه بل ته بيماری نهٔ لګی. د دے سره به هغهٔ دا حديث هم بيانولو چه بيمار اوښ د روغ اوښ خواله مهٔ راولئ؛ مخکښ حديث د يونس د حديث پشان.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د زهري نه په دغه اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى وَلَا هَامَةَ وَلَا نَوْءَ وَلَا صَفَرَ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی نهٔ بيماری لګيدے شی نهٔ هامه شته نهٔ نوء نهٔ صفر[2].

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَلَا غُولَ

د جابر نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دی نهٔ بيمار لګيدل څهٔ شته او نهٔ غول څهٔ څيز دے. او نهٔ صفر څهٔ دے[3].

---

[1] لفظي ترجمه نے داده. چه نهٔ دِ راولی بيمار اوښ والاخپل بيمار اوښ لره په روغ اوښ والا باندے يعنی د صحبت مندو اوښانو د ته ليکن د اختصار دپاره حاصل د مطلب ليکلے شوے دے.

نووی وائی د حديث د راوی کچرے حديث هير شی نو د هغے په صحت کښ څهٔ خلل نهٔ راځي. بلکه په هغے باندے عمل واجب دے او دا لفظ دابوهريره نه سوا سائب بن يزيد او جابر بن عبد الله او انس بن مالك او ابن عمر هم روايت کړے دے. چه بيماری لګيدل څهٔ شے نه دے. بيا ددے په ثبوت کښ څهٔ شك دے.

[2] نوء وئيلے شی د ستوری راختو او ډوبيدو ته د عربو خلقو به دا ګمان کولو چه باران ددے په وجه سره وريږی. لکه څنګه چه د هند خلق د نچهتر نه باران ګنړی او څنو وئيلی دی د نوء نه سپوږمۍ منزل مراد دے. غرض دا دے چه شريعت دا اعتقاد باطل ګرځولے دے. باران ورول د الله په رحمت او حکم سره دی. د ستورو په دے کښ څهٔ دخل نشته او ددے بيان په کتاب الصلوٰة کښ تير شوے دے

[3] لکه څنګه چه خلق وائی چه په ځنګل کښ شيطان وی دے ته غول وائی د شپے د رنړاګانو په شان پرقيږی. مسافرو ته لار ښائی او وژنی نے دا ټول غلط دی غول دول هيڅ نشته دے. تش يو وهم دے. او په ځنګل کښ چه څنے وخت څهٔ رنړا په نظر راځی هغه د زمکے خپله ماده ده. چه پخپله رنړا کيږی. او په هډوکو کښ هم دا ماده په کثرت سره وی. ځکه په قبرستان کښ اکثر ددے قسم رنړا په نظر راځی او څنو وئيلی دی د حديث نه د غول نفی منظوره نهٔ ده. بلکه غرض ابطال دے د هغه خيال چه عربو به کولو چه غول په مختلف صورتونو کښ جوړيږی او دهوکه کول کوی. او د لاغول نه دا غرض دے چه هغه چا لره دهوکه نهٔ شی ورکولے. او په يو حديث کښ دی چه کله د غول زور شی نو اذان کوئ او د ابوايوب په روايت کښ دی چه خما کهجورے غول راشی خوری نے. ددے نه معلومه شوه چه د غول وجود شته والله اعلم (نووی مع زيادة)

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوٰى وَلَا غُوْلَ وَلَا صَفَرَ

د جابرؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی نۀ د یو نه بل ته بیماری لګیدل څۀ دی او نۀ غول څۀ څیز دے او نۀ صفر څۀ دے.

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا عَدْوٰى وَلَا صَفَرَ وَلَا غُوْلَ وَسَمِعْتُ أَبَا الزُّبَيْرِ يَذْكُرُ أَنَّ جَابِرًا فَسَّرَ لَهُمْ قَوْلَهُ وَلَا صَفَرَ فَقَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ الصَّفَرُ الْبَطْنُ فَقِيْلَ لِجَابِرٍ كَيْفَ قَالَ كَانَ يُقَالُ دَوَابُّ الْبَطْنِ قَالَ وَلَمْ يُفَسِّرِ الْغُوْلَ قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ هٰذِهِ الْغُوْلُ الَّتِي تَغَوَّلُ

د ابوالزبیر نه روایت دے چه هغوی اوریدلی دی د جابرؓ نه هغه وئیل چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی چه فرمائیلی ئے وو د بیماری لګیدل هیڅ نشته صفر هیڅ نه دے، غول هیڅ نۀ دے. ما د ابوالزبیر نه اوریدلی دی چه وئیل ئے جابر د وَلَا صَفَرَ تفسیر کړے دے. ابو الزبیر وئیلی دی صفر ګیډے ته وائی. جابر ته اووئیلے شو خکه چه هغوی اووے خلقو وئیل صفرْ د ګیډے چینجی دی او د غول تفسیر ئے بیان نۀ کړو او ابوالزبیر وئیلی دی غول دغه دے چه هلاکوی مسافرو لره.

بَابُ الطِّيَرَةِ وَالْفَأْلِ وَمَا يَكُوْنُ فِيْهِ الشُّؤْمُ

باب: د بدفالئ او نیک فالئ بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا طِيَرَةَ وَخَيْرُهَا الْفَأْلُ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا الْفَأْلُ قَالَ الْكَلِمَةُ الصَّالِحَةُ يَسْمَعُهَا أَحَدُكُمْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی بد فالی څۀ څیز نۀ دے (یعنی شګون اخستل) او غوره (ښۀ) فال دے خلقو اووے یا رسول اللهؐ فال څۀ دے حضرتﷺ اوفرمائیل نیکه خبره چه څوك ئے په تاسو کښې واوری

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَفِي حَدِيْثِ عُقَيْلٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ سَمِعْتُ وَفِي حَدِيْثِ شُعَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ كَمَا قَالَ مَعْمَرٌ

د زهری نه په دغه اسناد سره دغسے روایت دے. او د عقیل په حدیث کښې د سَمِعْتُ په ځائے عَنْ دے او د شعیب په حدیث کښې دی اوریدلی دی ما د نبیﷺ نه څنګه چه معمر اووے

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ قَالَ لَا عَدْوٰى وَلَا طِيَرَةَ وَيُعْجِبُنِي الْفَأْلُ الْكَلِمَةُ الْحَسَنَةُ الْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ

د انسؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی بیماری لګیدل او شګون څۀ شے نۀ دے او ما ته غوره دے فال یعنی کلمه ښه کلمه

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے نبیﷺ فرمائیلی دی د یو بل نه



وَسَلَّمَ قَالَ لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ وَيُعْجِبُنِي الْفَأْلُ قَالَ قِيلَ وَمَا الْفَأْلُ قَالَ الْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ

بيماري لګيدل او بدشګوني څۀ نۀ دي او زۀ فال خوښوم. عرض اوکړے شو. فال څۀ دے. حضرت ﷺ اوفرمائيل ښۀ کلمه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ وَأُحِبُّ الْفَأْلَ الصَّالِحَ

د ابوهريرة نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د يو نه بل ته بيماري لګيدل او بدشګوني څۀ څيز نۀ دے بد فال څۀ نۀ دي البته ښۀ فال خما خوښ دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لاَ عَدْوَى وَلاَ هَامَةَ وَلاَ طِيَرَةَ وَأُحِبُّ الْفَأْلَ الصَّالِحَ

ابوهريرة نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. نۀ د يو نه بل ته بيماري لګيدل څۀ څيز دے نۀ هامه او نۀ بدشګوني او زۀ خو نيك فال خوښوم[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الشُّؤْمُ فِي الدَّارِ وَالْمَرْأَةِ وَالْفَرَسِ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي سپيرة توب په درے څيزونو کښې وي په کور کښې په ښځه کښې او په اس کښې

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ وَإِنَّمَا الشُّؤْمُ فِي ثَلاَثَةٍ الْمَرْأَةِ وَالْفَرَسِ وَالدَّارِ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. بيماري لګيدل او شګون اخستل څۀ څيز نۀ دي. البته سپيرة والے په درے څيزونو کښې وي په کور کښې او په آس کښې او په ښځه کښې.

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالشُّؤْمِ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ لاَ يَذْكُرُ أَحَدٌ مِنْهُمْ فِي حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ الْعَدْوَى وَالطِّيَرَةَ غَيْرُ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ

سالم د خپل پلار نه هغوی د نبی ﷺ نه روايت کړے دے. په دے کښې د بدقسمتئ بيان د مالك د حديث پشان دے د ابن عمر په حديث کښې سوا د يونس نه بل راوی د بيمارئ د لګيدو او دبدشګونئ ذکر نۀ دے کړے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنْ يَكُنْ مِنَ الشُّؤْمِ شَيْءٌ حَقٌّ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي کچرے بد شګون په يو څيز کښې وي نو په آس او ښځه او په کور

---

[1] شګون بدفالي طيره په بدو خبرو کښې وئيلے شي او په ښۀ خبره کښې فال وئيلے شي او په يو حديث کښې دي چه طيره شرك دے. يعني دا اعتقاد لرل چه دد ے نه نفع يا ضروري او د هغې په تاثير باند ے يقين کول د نيك فال دا مثال دے چه څوك بيمار شي او هلته د سالم آواز ورکړی نو اُميد پيدا شي چه هغه بيمار به زر ښۀ شي. يا څۀ کار وي د واجد په لفظ سره يا جنګ له روان دي او فتح خان نومے يو سړے ورسره ميلاؤ شي. وغيره

فَفِي الْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ وَالدَّارِ

كښ دے

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَلَمْ يَقُلْ حَقٌّ

د شعبه په دغه اسناد سره دغسے روايت دے او په دے كښ د حَقٌّ لفظ نشته دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنْ كَانَ الشُّؤْمُ فِي شَيْءٍ فَفِي الْفَرَسِ وَالْمَسْكَنِ وَالْمَرْأَةِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی كچرے بدشگونی په يو څيز كښ وی نو په اس كښ او كور كښ او په ښځه كښ به وی.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِنْ كَانَ فَفِي الْمَرْأَةِ وَالْفَرَسِ وَالْمَسْكَنِ يَعْنِي الشُّؤْمَ

سهل بن سعد ؓ وئيلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی كه دے نو په ښځه او آس او په كور كښ دے. يعنی بد شگون

عَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ فَفِي الرَّبْعِ وَالْخَادِمِ وَالْفَرَسِ

د جابر ؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی كچرے بدقسمتی وے په څۀ شی كښ نو په زمكه كښ او غلام كښ او په آس كښ به وے[1].

بَابُ تَحْرِيْمِ الْكَهَانَةِ وَإِتْيَانِ الْكُهَّانِ

باب: د كهانت حرمت او د كاهنانو خواله د تلو حرمت

عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أُمُوْرًا كُنَّا نَصْنَعُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ كُنَّا نَأْتِي الْكُهَّانَ قَالَ فَلَا تَأْتُوا الْكُهَّانَ قَالَ قُلْتُ كُنَّا نَتَطَيَّرُ قَالَ ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُهُ أَحَدُكُمْ فِي نَفْسِهِ فَلَا يَصُدَّنَّكُمْ

د معاويه بن الحكم سلمی نه روايت دے چه ما عرض اوكړو يا رسول الله! څنے كار به مونږ د جاهليت په زمانه كښ كولو. مونږ به د كاهنانو (يعنی نجوميانو) خواله تلو حضرت ﷺ اوفرمائيل اوس د نجوميانو خواله مۀ ځئ. مونږه اووے مونږ به بدشگون اخستل كولو. حضرت ﷺ اوفرمائيل دا هغه خيال دے چه

---

[1] نووی ؒ وئيلی دی علماء اختلاف كړے دے په دے حديث كښ. امام مالك ؒ او يوه طائفه وائی چه دا حديث په خپل ظاهر باندے دے كله كور لره الله تعالى سبب د هلاكت كړی دغه شان يوے ښځے يا يو آس يا غلام لره او مطلب دا دے چه كله سپيرۀ والے په دے څيزونو كښ راځی لكه چه په بل روايت كښ دی چه كچرے سپيرۀ والے په څۀ شی كښ وی نو په دوی كښ به وی. او خطابی او ډيرو عالمانو وئيلی دی چه دا په طور د استثناء ده يعنی شگون اخستل منع دی. مگر هر كله چه د چا كور وی او هغه په هغے كښ اوسيدل غوره نۀ كړی يا د يوے ښځے سره صحبت مكروه اوگڼړی يا آس يا خادم ورته بد ښكاره شی. نو هغه د اوباسی (يعنی لرے كړی) په بيعه او طلاقو سره. او څنو وئيلی دی د اس بدقسمتی دا ده چه په هغے باندے جهاد اونۀ كړے شی. او د غلام سپيرۀ توب دا دے چه بد اخلاقه نالائقه وی انتهی مختصراً



ستاسو په زړه کښې تیریږی. لیکن دې دے خیال په وجه سره تاسو هیڅ خپل کار مه پریږدئ[1].

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الإِسْنَادِ مِثْلَ مَعْنٰى حَدِيثِ يُونُسَ غَيْرَ أَنَّ مَالِكًا فِي حَدِيثِهِ ذِكْرَ الطِّيَرَةِ وَلَيْسَ فِيهِ ذِكْرُ الْكُهَّانِ

د زهری نه په دغه اسناد سره د یونس د حدیث پشان روایت دے. مگر د مالك په حدیث کښې د بدشګونۍ ذکر دے او په دے کښې د کاهنانو ذکر نشته دے.

عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰى حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ مُعَاوِيَةَ وَزَادَ فِي حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ قَالَ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ قَالَ كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ

معاویه بن حکم اسلمی د رسول الله ﷺ نه د دے حدیث هم معنی حدیث روایت کړو چه زهری د ابوسلمه په واسطے سره روایت کړی او د یحیی بن ابی کثیر په حدیث کښې دا زیاته ده چه ما اووے. بعضے خلق کرښے راکاږی. حضرت ﷺ اوفرمائیل په پیغمبرانو کښې یو پیغمبر به هم کرښے راخکلے پس د چا کرښے به چه د هغوی د کرښو مطابق شوے هغه صحیح دی[2].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ الْكُهَّانَ كَانُوا يُحَدِّثُونَنَا بِالشَّيْءِ فَنَجِدُهُ

د ام المؤمنین حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ بعضے خبرے زمونږ نه نجومی وائی

---

[1] قاضی عیاض وائی د عربو کهانت په درے قسمه دے. یو دا چه د پیری یا شیطان سره ئے محبت وی او هغه دۀ ته د اسمان خبرونه آئنده خبرے په الوتو سره ښودلے نو دا قسم د رسول الله ﷺ په نبوت سره موقوف شو. دویم دا چه د زمکے د هر طرف خبرونه چه هغه لرے لرے وی او پټ وی ورته ښائی. او د دے قسم کول اوس هم د قیاس نه لرے نهٔ دی. لیکن معتزلو او څنې اهل کلام د دے دواړو قسمونو نفی کړے ده او دے لره ئے محال ګرځولی دی. دریم د نجوم په زور سره تلونکے خبرے ښودل لکه پنډت او شاستری ئے په هند کښې هم ښائی. او دا قوت الله تعالی په څنو خلقو کښې پیدا کړے دے. لیکن اکثر د هغوی خبرے دروغ وی. په دے قسمونو کښې یو عرافت هم دے او څوك چه په عرافت باندے پوهیږی هغهٔ ته عراف وئیلے شی. عراف په اسبابو او علاماتو سره راتلونکی واقعے لره پیژندے شی او پیشن ګوئی کوی. د دے ټولو قسمونه ته کهانت وئیلے شی. او شریعت د دے ټولو ته دروغ وئیلی دی. او د ټولو خواله د تلو نه او په هغے باندے د یقین کولو نه ئے منع فرمائیلے ده. (نووی)

[2] د هغهٔ یوه نیمه خبره رښتیا شی لیکن دا اتفاقی ده. اوس د هغه پیغمبر په شان کرښے کول هیچا ته معلوم نهٔ دی. په دے وجه سره راتلونکے خبرے هم معلومیدے نهٔ شی. او څنې وائی هغه پیغمبر حضرت دانیال علیه السلام وو. او د رمل علم د هغوی نه راوتلے دے رمل وئیلے شی. شکو ته په شکو کښې به ئے کرښے راښکودے. د اردو کتاب والامترجم د رمّالو امتحان اخستے دے او د هغوی خبرے مے تولے غلطے موندلی دی. د هغے وجه: دغه ده چه د رمل علم چه د کوم پیغمبر وو هغه باقی پاتے نهٔ شو افسوس دے چه په دے زمانه کښې مسلمانان نجوم او او جفر او دغه شان په نورو طریقو باندے اعتقاد لری. او قرآن او حدیث طرفته هیڅ ګوری هم نه

حَقًّا قَالَ تِلْكَ الْكَلِمَةُ الْحَقُّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ فَيَقْذِفُهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ وَيَزِيدُ فِيهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ

او هغه ربنتیا خیژی. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا ربنتیا خبره پیرے هغۀ ته بنائی او د خپلو دوستانو په غوږ کښې نے غورخوی او د سلو نه زیات دروغ ورسره ملګری کوی.

عَنْ عَائِشَةَ سَأَلَ أُنَاسٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْكُهَّانِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسُوا بِشَيْءٍ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ فَإِنَّهُمْ يُحَدِّثُونَ أَحْيَانًا الشَّيْءَ يَكُونُ حَقًّا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْجِنِّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ قَرَّ الدَّجَاجَةِ فَيَخْلِطُونَ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ كَذْبَةٍ

د ام المؤمنین حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه څۀ کسانو د رسول الله ﷺ نه د نجومیانو په باره کښې تپوس اوکړو حضرت ﷺ اوفرمائیل لغوه دی د څۀ اعتبار لائق نه دی. خلقو اووے یا رسول الله ﷺ ځنے خبرے د هغوی ربنتیا خیژی. حضرت ﷺ اوفرمائیل ربنتیا خبره هغه ده چه هغے له پیریان په هوا واخلی او د خپل دوست په غوږ کښې نے اوغورخوی. لکه چرګه چه چرګوړے د دانے دپاره راغواړی (او هغه چرګوړے د هغے په آواز پوهیږی او نور خلق پرے نۀ پوهیږی دغه شان د پیری په خبره د هغۀ دوست پوهیږی او نور خلق پرے نۀ پوهیږی) لود خپل طرفنه سل دروغ هم ورسره میلاوه وی (او خلقو ته ئے وائی)

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ رِوَايَةِ مَعْقِلٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ

ابن شهاب په دغه اسناد سره دغسے روایت اوکړو څنګه چه معقل د زهری نه

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَخْبَرَنِي رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْأَنْصَارِ أَنَّهُمْ بَيْنَمَا هُمْ جُلُوسٌ لَيْلَةً مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُمِيَ بِنَجْمٍ فَاسْتَنَارَ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاذَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا رُمِيَ بِمِثْلِ هٰذَا قَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ كُنَّا نَقُولُ وُلِدَ اللَّيْلَةَ رَجُلٌ عَظِيمٌ وَمَاتَ رَجُلٌ عَظِيمٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّهَا لَا يُرْمَى

د عبدالله بن عباس ؓ نه روایت کړے دے چه ما ته یو انصاری صحابی بیان کړے دے چه هغه د شپے د رسول الله ﷺ سره ناست وو چه په دے کښې یو ستورے مات شو او ډیر اوپرقیدو حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو به د جاهلیت په زمانه کښې څۀ وے هر کله چه به داسے واقعه راغله هغوی اووے الله ؓ او د هغۀ رسول ؐ ښۀ پوهیږی. لیکن مونږ به د جاهلیت په زمانه کښې داسے ونیل چه نن شپه شکك غټ سړے پیدا شوےدے یا مړ دے. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل ستورے د چا د پیدا کیدو یا مړ کیدو دپاره نۀ ماتیږی لیکن زمونږ مالك جل جلاله چه هر کله څۀ حکم کوی نو د



بِهَا لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلَكِنْ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى اسْمُهُ إِذَا قَضَى أَمْرًا سَبَّحَ حَمَلَةُ الْعَرْشِ ثُمَّ سَبَّحَ أَهْلُ السَّمَاءِ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ حَتَّى يَبْلُغَ التَّسْبِيحُ أَهْلَ هَذِهِ السَّمَاءِ الدُّنْيَا ثُمَّ قَالَ الَّذِينَ يَلُونَ حَمَلَةَ الْعَرْشِ لِحَمَلَةِ الْعَرْشِ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ فَيُخْبِرُونَهُمْ مَاذَا قَالَ قَالَ فَيَسْتَخْبِرُ بَعْضُ أَهْلِ السَّمَاوَاتِ بَعْضًا حَتَّى يَبْلُغَ الْخَبَرُ هَذِهِ السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَتَخْطَفُ الْجِنُّ السَّمْعَ فَيَقْذِفُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ وَيُرْمَوْنَ بِهِ فَمَا جَاءُوا بِهِ عَلَى وَجْهِهِ فَهُوَ حَقٌّ وَلَكِنَّهُمْ يَقْرِفُونَ فِيهِ وَيَزِيدُونَ

عرش اوچتولو والا فرشتے تسبیح کوی بیا د هغوی د آواز اوریدو سره د هغوی د گاونډی آسمان فرښتے تسبیح کوی تردے پورې چه د تسبیح نمبر ددنیا د اسمان پورے رااورسی. بیا چه کوم خلق د عرش اوچتونکو فرښتو ته نږدے دی هغه د هغوی نه تپوس کوی چه ستاسو رب څهٔ اوفرمائیل. هغه ئے بیان کړی په دغه طریقه هر آسمان والا یو بل ته بیان کوی تردے پورے چه هغه خبر ددنیا آسمان والاؤ ته راشی د هغوی نه هغه خبر پیریان رااخلی او خپلو دوستانو ته ئے اورووی. فرښتے چه هر کله دغه جناتو لره اوینی نو په دے ستورو سره ئے اولی (نو دا ستوری د هغوی کوړے دی) بیا چه څهٔ خبر جنات راوړی کچرے هم هغه اووائی نو رښتیا دی. لیکن هغه پکښې دروغ میلاو وی او زیاتوی ئے.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَخْبَرَنِي رِجَالٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ مِنَ الْأَنْصَارِ وَفِي حَدِيثِ الْأَوْزَاعِيِّ وَلَكِنْ يَقْرِفُونَ فِيهِ وَيَزِيدُونَ وَفِي حَدِيثِ يُونُسَ وَلَكِنَّهُمْ يَرْقَوْنَ فِيهِ وَيَزِيدُونَ وَزَادَ فِي حَدِيثِ يُونُسَ وَقَالَ اللَّهُ حَتَّى إِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا الْحَقَّ وَفِي حَدِيثِ مَعْقِلٍ كَمَا قَالَ الْأَوْزَاعِيُّ وَلَكِنَّهُمْ يَقْرِفُونَ فِيهِ وَيَزِيدُونَ

د عبد الله بن عباس رضی نه روایت دے چه ما ته خبر راکړو د رسول الله ﷺ څو انصارو صحابو. او د اوزاعی رح په حدیث کښې لفظ یَقْرِفُونَ دے او د یونس په حدیث کښې یَرْقَوْنَ او د یونس په حدیث کښې دا زیاته ده . الله تعالی اوفرمائیل حَتَّى إِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا الْحَقَّ . او د معقل په حدوث کښې هم د اوزاعی رح د حدیث پشان د یَقْرِفُونَ لفظ دے.

عَنْ صَفِيَّةَ عَنْ بَعْضِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ

صفیه د رسول الله ﷺ د یوے بی بی نه روایت کوی وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك د عرافی خواله راغے او د هغهٔ نه ئے د څهٔ خبرے تپوس اوکړو نو د هغهٔ به د څلویښتو ورځو پورے مونځ نهٔ

تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً

قبلیږی[1]

بَابُ اجْتِنَابِ الْمَجْذُومِ وَنَحْوِهِ

عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ رَجُلٌ مَجْذُومٌ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ

باب : د جذامی نه د پرهیز کولو بیان

د عمرو بن شرید نه روایت دے چه هغوی اوریدلی دی د خپل پلار نه چه د ثقیف په خلقو کښ یو جذامی سړے وو. رسول الله ﷺ په هغهٔ پسے قاصد اولیږو چه ته واپس شه مونږ ستا نه بیعت اوکړو[2]



[1] معاذ الله د نجومی اوکاهن خواله په تلو او د هغهٔ نه په تپوس کولو کښ خومره لویه گناه ده بیا د هغهٔ په خبره باندے په یقین کولو کښ به خومره لویه گناه وی په یو روایت کښ دی چه هغه کافر کیږی. زمونږ په زمانه کښ ځنے بے وقوفه جاهلان داسے رلوتلی دی چه هغه د شریعت د پخو پخو خبرونه انکار کوی لیکن په نجومی او پنډت باندے اعتقاد لری د الله تعالی لعنت د هغوی په عقل باندے

[2] د جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د جذامی سره یو ځائے خوراك کړے دے او فرمائیلی دی په الله باندے اعتماد دے لو حضرت عمر د جذامی سره خوراك جائز کړے دے. او د هغوی په نز د جذامی نه د پرهیز کولو حدیث منسوخ دے. او صحیح دادہ چه منسوخ نهٔ دے او د پرهیز حدیث په استحباب باندے محمول دے او خوراك په جواز باندے او د ځنے علماؤ په نز کچرے خاوند جذامی اوخیژی نو ښځے له د نکاح د ماتولو اختیار شته دغه شان جذامی د جماعت د راتلو نه او د خلقو سره د میلاویدو نه منع کولے

كِتَابُ قَتْلِ الْحَيَاتِ وَغَيْرِهَا

د مارانو وغیره د وژلو بیان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ ذِي الطُّفْيَتَيْنِ فَإِنَّهُ يَلْتَمِسُ الْبَصَرَ وَيُصِيبُ الْحَبَلَ

د حضرت عائشے ؓ نه روایت دے حکم کړے دے رسول الله ﷺ د دوو کرښو والا مار د وژلو. ځکه چه هغه سترګے جوی او د حملدارے حمل غورځوی.

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ الْأَبْتَرُ وَذُو الطُّفْيَتَيْنِ

د هشام نه په دغه اسناد سره روایت دے. او په دے کښې دی لنډۍ مار او د دوؤ کرښو والا مار.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ وَذَا الطُّفْيَتَيْنِ وَالْأَبْتَرَ فَإِنَّهُمَا يَسْتَسْقِطَانِ الْحَبَلَ وَيَلْتَمِسَانِ الْبَصَرَ قَالَ فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقْتُلُ كُلَّ حَيَّةٍ وَجَدَهَا فَأَبْصَرَهُ أَبُو لُبَابَةَ بْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ أَوْ زَيْدُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ يُطَارِدُ حَيَّةً فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ نُهِيَ عَنْ ذَوَاتِ الْبُيُوتِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی وژنئ مارانو لره او دوؤ کرښو والا مار لره. او لنډۍ لره. ځکه چه دا دواړه حمل لره غورځوی او نظر د سترګو ختموی. راوی وئیلی دی ابن عمر ؓ چه به کوم مار لیدلو نو وژلو به ئے. یو ځل ابولبابه بن عبد المنذر یا زید ابن خطاب هغوی لره په یو مار وروستے شوے اولیدو. نو اوئے وئیل منع کړی شوی دی وژل د کورونو د مارانو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَأْمُرُ بِقَتْلِ الْكِلَابِ يَقُولُ اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ وَالْكِلَابَ وَاقْتُلُوا ذَا الطُّفْيَتَيْنِ وَالْأَبْتَرَ فَإِنَّهُمَا يَلْتَمِسَانِ الْبَصَرَ وَيَسْتَسْقِطَانِ الْحَبَالَى قَالَ الزُّهْرِيُّ وَنُرَى ذٰلِكَ مِنْ سُمَّيْهِمَا وَاللهُ أَعْلَمُ قَالَ سَالِمٌ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ فَلَبِثْتُ لَا أَتْرُكُ حَيَّةً أَرَاهَا إِلَّا قَتَلْتُهَا فَبَيْنَا أَنَا أُطَارِدُ حَيَّةً يَوْمًا مِنْ ذَوَاتِ الْبُيُوتِ مَرَّ بِي زَيْدُ بْنُ الْخَطَّابِ أَوْ أَبُو لُبَابَةَ وَأَنَا أُطَارِدُهَا فَقَالَ مَهْلًا يَا عَبْدَ اللهِ فَقُلْتُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِهِنَّ قَالَ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه حکم ئے کولو د سپو د وژلو او فرمائیل ئے مارانو او سپو لره وژنئ او وژنئ دوه کرښو والا اولکئ پریکړی مار لره. ځکه چه دا دواړه نظر ختموی او د حملدارو (ښځو) حمل غورځوی. زهری وائی کیدے شی د هغوی په زهرو کښې دا تاثیر وی. سالم وائی عبد الله بن عمر ؓ اووے. زهٔ خو چه کوم مار وینم هغه فوراً وژنمه یو ځل زهٔ د کور د مارانو نه په یو مار پسے لګیدلے وم (یعنی روان وم) نو زید بن خطاب یا ابو لبابه څما د مخے نه تیر شو او زهٔ په هغه (مار) وروستے وم. هغوی اووے او دریږه اے عبد الله! ما اووے رسول الله ﷺ د مارانو د وژلو حکم ورکړے دے. هغوی اووے رسول الله ﷺ منع

إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَدْ نَهَى عَنْ ذَوَاتِ الْبُيُوتِ

فرمائیلے دہ د کور د مار د وژلو نه

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ صَالِحًا قَالَ حَتّٰى رَاٰي أَبُو لُبَابَةَ بْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ وَزَيْدُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَا إِنَّهُ قَدْ نَهٰى عَنْ ذَوَاتِ الْبُيُوتِ وَفِي حَدِيثِ يُونُسَ اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ وَلَمْ يَقُلْ ذَا الطُّفْيَتَيْنِ وَالْأَبْتَرَ

د زهری نه په دغه اسناد سره روایت دے.مګر د صالح راوی په روایت کښې دی چه عبد الله بن عمرؓ وئیلی دی چه تردے پورے اوکتل چه رسول الله ﷺ منع فرمائیله د کور د مارانو نه.او د یونس په حدیث کښې دی چه مارانو لره قتل کړئ او دوؤ کربنو والا مار او لنډئ نه دہ وئیلے

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ أَبَا لُبَابَةَ كَلَّمَ ابْنَ عُمَرَ لِيَفْتَحَ لَهُ بَابًا فِي دَارِهِ يَسْتَقْرِبُ بِهِ إِلَى الْمَسْجِدِ فَوَجَدَ الْغِلْمَةُ جِلْدَ جَانٍّ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ الْتَمِسُوهُ فَاقْتُلُوهُ فَقَالَ أَبُو لُبَابَةَ لَا تَقْتُلُوهُ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ قَتْلِ الْجِنَّانِ الَّتِي فِي الْبُيُوتِ

د نافع نه روایت دے چه ابولبابهؓ ابن عمرؓ ته اووے د یوے دروازے لګولو دپاره د هغوی په کور کښې دده دپاره چه جماعت ته تردے شی.په دے کښې هلکانو د مار یوه جوړه اولیده. عبد الله اووے مار لره اولټوئ او مړئے کړئ.ابولبابه اووے مه ئے وژنئ ځکه چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے دہ. د هغه مارانو (د وژلو) نه کوم چه په کور کښې وی.

عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقْتُلُ الْحَيَّاتِ كُلَّهُنَّ حَتّٰى حَدَّثَنَا أَبُو لُبَابَةَ بْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ الْبَدْرِيُّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ قَتْلِ جِنَّانِ الْبُيُوتِ فَأَمْسَكَ

د نافعؓ نه روایت دے چه عبد الله بن عمرؓ به ټولو مارانو لره وژلو. تردے پورې چه ابولبابه بن عبد المنذر حدیث بیان کړو موږ ته چه رسول اللهؐ منع فرمائیلے د کور د مار د وژلو نه د هغه ورځې نه عبد الله بن عمرؓ موقوف کړو.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا لُبَابَةَ يُخْبِرُ ابْنَ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ قَتْلِ الْجِنَّانِ

د نافعؓ نه روایت دے هغه اوریدلی دی د ابولبابهؓ نه هغوی ته خبر ورکړے دے عبد الله بن عمرؓ چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے دہ د مارانو د وژلو نه

عَنْ أَبِي لُبَابَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ قَتْلِ الْجِنَّانِ الَّتِي فِي الْبُيُوتِ

د ابولبابهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د هغه مارانو د وژلو نه منع فرمائیلے دہ کوم چه په کورونو کښې اوسیږی

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ أَبَا لُبَابَةَ بْنَ عَبْدِ الْمُنْذِرِ الْأَنْصَارِيَّ وَكَانَ مَسْكَنُهُ بِقُبَاءٍ فَانْتَقَلَ إِلَى

د نافعؓ نه روایت دے چه د ابولبابه بن عبد المنذر انصاری کور په قُبا کښې وو. هغه مدینے ته راغے یو خل عبد الله بن عمرؓ د هغوی په

الْمَدِينَةِ فَبَيْنَمَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ جَالِسًا مَعَهُ يَفْتَحُ خَوْخَةً لَهُ إِذَا هُمْ بِحَيَّةٍ مِنْ عَوَامِرِ الْبُيُوتِ فَأَرَادُوا قَتْلَهَا فَقَالَ أَبُو لُبَابَةَ إِنَّهُ قَدْ نُهِيَ عَنْهُنَّ يُرِيدُ عَوَامِرَ الْبُيُوتِ وَأُمِرَ بِقَتْلِ الْأَبْتَرِ وَذِي الطُّفْيَتَيْنِ وَقِيلَ هُمَا اللَّذَانِ يَلْتَمِعَانِ الْبَصَرَ وَيَطْرَحَانِ أَوْلَادَ النِّسَاءِ

مخکښې ناست وو يو روشندان ئې لګولو چه ناڅاپه ئې يو مار په نظر راغې د کور د غټې عمر والا مارانو نه خلقو هغه لره وژل غوښتلو. ابولبابه اووې دې د وژلو نه ممانعت دې يعنې د کور د مارانو نه او حکم کړې دې حضرت ﷺ د لنډئ او دوه پټو والا مار د وژلو. او وئيلې شوې دي چه دا دوه قسمه ماران نظر د سترګو لره ختموي او د ښځو نه حملونه غورځوي.

عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ يَوْمًا عِنْدَ هَدْمٍ لَهُ فَرَأَى وَبِيصَ جَانٍّ فَقَالَ اتَّبِعُوا هٰذَا الْجَانَّ فَاقْتُلُوهُ قَالَ أَبُو لُبَابَةَ الْأَنْصَارِيُّ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ قَتْلِ الْجِنَّانِ الَّتِي تَكُونُ فِي الْبُيُوتِ إِلَّا الْأَبْتَرَ وَذَا الطُّفْيَتَيْنِ فَإِنَّهُمَا اللَّذَانِ يَخْطِفَانِ الْبَصَرَ وَيَتَتَبَّعَانِ مَا فِي بُطُونِ النِّسَاءِ

د نافع نه روايت دې چه عبد الله بن عمر ؓ يوه ورځ د خپل غورځيدلې کور سره وو چه هلته ئې د مار يوه جوړه اوليده نو خلقو ته ئې اووې دې ما لټون اوکړئ او دې مړ کړئ. ابولبابه اووې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دي چه منع ئې فرمائيله د هغه مارانو د وژلو نه چه هغه په کورونو کښې اوسيږي. مګر لنډئ او په کوم باندې چه دوه پټې وي. ځکه چه دا دواړه نظر لره نښتوي (کله چه نظر ميلاؤ کړي) او د ښځو حمل غورځوي. (د يرې د وجې نه د ښځو حمل غورځيږي د هغه په نظر کښې دا تاثير دې)

عَنْ نَافِعٍ حَدَّثَهُ أَنَّ أَبَا لُبَابَةَ مَرَّ بِابْنِ عُمَرَ وَهُوَ عِنْدَ الْأُطُمِ الَّذِي عِنْدَ دَارِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ يَرْصُدُ حَيَّةً بِنَحْوِ حَدِيثِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ

د نافع نه روايت دې چه ابو لبابه د عبد الله بن عمر ؓ په خواه کښې تير شو. هغه د حضرت عمر ؓ د کور په خواه کښې چه کوم قلعه وو هلته اوريدو د يو مار په انتظار وو د آخره پورې[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

د عبدالله بن مسعود ؓ نه روايت دې چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو

---

[1] نووي ؒ وائي د مدينې منورې مارانو لره بغير د اطلاع ورکولو او يرولو لکه چه مخکښې به راشي وژل صحيح نه دي. او د مدينې نه سوا نور په ټولو ځايونو او ځنګلونو يا کورونو کښې د مار وژل مستحب دي. او د يرولو حاجت نشته دې. او د مدينې د استثناء وجه داده چه د پيريانو يو مسلمان جماعت هلته د مارانو په شکل کښې اوسيدل او د يو ټولې د علماؤ دا قول دې. چه د کور مارانو لره په هر ښار کښې بغير د يرولو او تنګولو نه وژل نه دي پکار. البته په بل ځائې کښې وژل پکار دي بغير د يرولو نه او امام مالک ؒ وئيلي دي په جماعت کښې ئې هم وژل پکار دي. او ځنې علماؤ وئيلي دي چه د کور په مارانو کښې هم دوو کرتو والا لره لولکئ پريکړې لره بغير د يرولو وژل پکار دي. او د يرولو ترکيب داد چه مار ته به داسې اووائې زۀ تاله قسم درکوم د هغه وعدې کومه چه حضرت سليمان عليه السلام اخستې وه چه مونږ ته ضرر مۀ راکوه او د دې نه پس مۀ راوځه بيا کچرې هغه راوخي نو مړ ئې کړئ.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَارٍ وَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا فَنَحْنُ نَأْخُذُهَا مِنْ فِيهِ رَطْبَةً إِذْ خَرَجَتْ عَلَيْنَا حَيَّةٌ فَقَالَ اقْتُلُوهَا فَابْتَدَرْنَاهَا لِنَقْتُلَهَا فَسَبَقَتْنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَاهَا اللهُ شَرَّكُمْ كَمَا وَقَاكُمْ شَرَّهَا

په غاره کښې دغه وخت په حضرت ﷺ باندې سورة والمرسلات عرفا نازل شوې وو. مونږ د حضرت ﷺ د خلې مبارکې نه تازه تازه دا سورة اوریدلو چه په دې کښې یو مار رااووتو حضرت ﷺ اوفرمائیل او وژنئ دهٔ لره مونږ پرې د وژلو دپاره ورغوته شو خو هغه اووتو او اوتښتیدهٔ. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله تعالی دهٔ لره بچ کړو ستاسو د لاسونو نه څنګه چه تاسو بچ کړئ الله تعالی دده د شر نه

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ

د اعمش نه په دغه اسناد سره دغسې روایت دې.

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ مُحْرِمًا بِقَتْلِ حَيَّةٍ بِمِنًى

د عبد الله بن مسعود نه روایت دې چه رسول الله ﷺ یو احرام تړلی سړی ته د مار د وژلو حکم اوکړو په منی کښې.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي غَارٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ جَرِيرٍ وَأَبِي مُعَاوِيَةَ

عبد الله بن مسعود اووې چه په هغه حالت کښې مونږ د رسول الله ﷺ په یو غار کښې وو (مخکښې حدیث) د جریر او د ابومعاویه د حدیث پشان دې.

عَنْ أَبِي السَّائِبِ مَوْلَى هِشَامِ بْنِ زُهْرَةَ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ فِي بَيْتِهِ قَالَ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي فَجَلَسْتُ أَنْتَظِرُهُ حَتَّى يَقْضِيَ صَلَاتَهُ فَسَمِعْتُ تَحْرِيكًا فِي عَرَاجِينَ فِي نَاحِيَةِ الْبَيْتِ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا حَيَّةٌ فَوَثَبْتُ لِأَقْتُلَهَا فَأَشَارَ إِلَيَّ أَنِ اجْلِسْ فَجَلَسْتُ فَلَمَّا انْصَرَفَ أَشَارَ إِلَى بَيْتٍ فِي الدَّارِ فَقَالَ أَتَرَى هَذَا الْبَيْتَ فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَ كَانَ فِيهِ فَتًى مِنَّا حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ فَخَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْخَنْدَقِ فَكَانَ ذَلِكَ الْفَتَى

د ابوالسائب نه روایت دې چه غلام وو د هشام بن زهره هغه لاړو د ابوسعید خواله ابوالسائب وائی ما هغه په مانځهٔ کښې اوموندو نو زهٔ کیښناستم د هغهٔ د مونځ ادا کولو انتظار مې کولو په دې کښې څهٔ د حرکت آواز راغې په هغه لرګو کښې چه د کور په ګوټ کښې پراتهٔ وو. ما چه هغه طرفته اوکتل نو یو مار وو. ما منډه کړه د هغهٔ د وژلو دپاره ابوسعید اشاره اوکړه چه کیښنه زهٔ کیښناستم هر کله چه د مانځهٔ نه فارغ شو نو یوه کوټه ګی ئې ما ته اوښوده. او تپوس ئې اوکړو دا کوټه ګی وینې. ما اووې آو. هغوی اووې په دې کښې یو خوان اوسیدو زمونږ خلقو نه چه هغه نوې وادهٔ کړې وو مونږ د رسول الله ﷺ سره د خندق په طرف رااووتو. هغه خوان به د غرمې په وخت د حضرت ﷺ نه اجازت غوښتو او کور ته به ورتلو. یوه ورځ ئې د حضرت ﷺ نه اجازت

يَسْتَأْذِنُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنْصَافِ النَّهَارِ فَيَرْجِعُ إِلَى أَهْلِهِ فَاسْتَأْذَنَهُ يَوْمًا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْ عَلَيْكَ سِلَاحَكَ فَإِنِّي أَخْشَى عَلَيْكَ قُرَيْظَةَ فَأَخَذَ الرَّجُلُ سِلَاحَهُ ثُمَّ رَجَعَ فَإِذَا امْرَأَتُهُ بَيْنَ الْبَابَيْنِ قَائِمَةً فَأَهْوَى إِلَيْهَا الرُّمْحَ لِيَطْعُنَهَا بِهِ وَأَصَابَتْهُ غَيْرَةٌ فَقَالَتْ لَهُ اكْفُفْ عَلَيْكَ رُمْحَكَ وَادْخُلِ الْبَيْتَ حَتَّى تَنْظُرَ مَا الَّذِي أَخْرَجَنِي فَدَخَلَ فَإِذَا بِحَيَّةٍ عَظِيمَةٍ مُنْطَوِيَةٍ عَلَى الْفِرَاشِ فَأَهْوَى إِلَيْهَا بِالرُّمْحِ فَانْتَظَمَهَا بِهِ ثُمَّ خَرَجَ فَرَكَزَهُ فِي الدَّارِ فَاضْطَرَبَتْ عَلَيْهِ فَمَا يُدْرَى أَيُّهُمَا كَانَ أَسْرَعَ مَوْتًا الْحَيَّةُ أَمِ الْفَتَى قَالَ فَجِئْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ وَقُلْنَا ادْعُ اللهَ يُحْيِيهِ لَنَا فَقَالَ اسْتَغْفِرُوا لِصَاحِبِكُمْ ثُمَّ قَالَ إِنَّ بِالْمَدِينَةِ جِنًّا قَدْ أَسْلَمُوا فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهُمْ شَيْئًا فَآذِنُوهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنْ بَدَا لَكُمْ بَعْدَ ذَلِكَ فَاقْتُلُوهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ

اوغوښتو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل وسله واخله او لاړ شه خکه چه ما ته د بنی قریظه نه یره ده (چه هغوی دهوکه کړے ده او د موقع په لیدو د مشرکانو په طرف شوی وو) هغه سړی خپله وسله راواخسته هر کله چه خپل کور ته راورسیدو نو هغه خپله بی بی اولیده چه د دوارو تنبو په مینځ کښې په دروازه کښې ولاړه ده. هغهٔ د غیرت نه د هغې د وهلو دپاره نیزه اوچته کړه. ښځې اووے خپله نیزه د سنبال کړه او دننه ورشه اوگوره نو معلومه به شی درته چه زهٔ ولے راوتلې یم هغه خوان چه دننه لاړو او اوئې کتل نو یو غټ مار تاؤ راتاؤ شوے په بستره باندے پروت وو خوان په هغهٔ پسے نیزه اوچته کړه او په هغه نیزه کښې ئې اوتومبو. او نیزه ئې په کور کښې اودروله هغه مار په هغهٔ پسے راتاؤ شو. دد ے نه پس معلومه نه پوهیږو چه مار مخکښې مړ شو او کهٔ خوان مخکښې مړ شو بیا مونږ د رسول الله ﷺ خواله راغلو او هغوی ته مو توله قیصه بیان کړه. او مونږه عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ د الله نه دُعا اوغواړه چه الله تعالی دا خوان بیا ژوندے کړی حضرت ﷺ اوفرمائیل د خپل ملگری دپاره د بخشش دُعا اوکړئ بیائې اوفرمائیل په مدینه کښې پیریان اوسیږی چه هغه مسلمانان شوی دی پس کچرے تاسو مارانو لره اووینئ. نو د درے ورځو پورے هغوی لره خبروئ (په دے شان لکه چه پورته تیر شو) کچرے د درے ورځو نه پس بیا هم رااووتهٔ نو بیائې مړ کړئ هغه شیطان دے (یعنی کافر پیرے دے یا شریر مار دے)

عَنْ أَسْمَاءَ بْنِ عُبَيْدٍ يُحَدِّثُ عَنْ رَجُلٍ يُقَالُ لَهُ السَّائِبُ وَهُوَ عِنْدَنَا أَبُو السَّائِبِ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ فَبَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ إِذْ سَمِعْنَا

اسماء بن عبید حدیث روایت کوی د یو سړی نه چه هغهٔ ته به ئې سائب وے او هغه زمونږ په نز ابوالسائب دے. هغوی اووے چه مونږ د ابوسعید خدری ؓ خواله لاړو. نو مونږ ناست وو چه د تخت لاندے مونږ د کشاری آواز واوریدهٔ نو اوم کتل نو یو مار وو.

تَحْتَ سَرِيرِهِ حَرَكَةً فَنَظَرْنَا فَإِذَا حَيَّةٌ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكٍ عَنْ صَيْفِيٍّ وَقَالَ فِيهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِهَذِهِ الْبُيُوتِ عَوَامِرَ فَإِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْهَا فَحَرِّجُوا عَلَيْهَا ثَلَاثًا فَإِنْ ذَهَبَ وَإِلَّا فَاقْتُلُوهُ فَإِنَّهُ كَافِرٌ وَقَالَ لَهُمْ اذْهَبُوا فَادْفِنُوا صَاحِبَكُمْ

مخکښې د پوره قصے سره حديث بيان کړو څنګه چه د مالك د صيفي نه حديث مروی دے. او په دے کښې دا هم دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل په دے کورونو کښې عمر والا ماران دی. هر کله چه تاسو د هغوی نه يو لړه اووينئ نو د درے ورځو پورے هغهٔ لره تنګوئ (يعنی داسے ورته اووايئ چه کچرے بيا رااووتے نو تا ته به تکليف دراورسی) کچرے هغه بيا نهٔ راوتو نو خير دے او کهٔ رااووتو نو مرئے کړئ هغه کافر پيرے دے (او په دے روايت کښې دا زياته ده. لاړ شه او خپل ملګرے دفن کړه.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ سَمِعْتُهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بِالْمَدِينَةِ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ قَدْ أَسْلَمُوا فَمَنْ رَأَى شَيْئًا مِنْ هَذِهِ الْعَوَامِرِ فَلْيُؤْذِنْهُ ثَلَاثًا فَإِنْ بَدَا لَهُ بَعْدُ فَلْيَقْتُلْهُ فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ

د ابوسعيد خدری نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل په مدينه کښې يو څو پيريان اوسيږی چه مسلمانان شوی دی پس هر څوك چه د هغوی عمر والا مارانو کښې يو مار اووينی نو هغهٔ د درے خله خبر دار کړی کچرے د دے نه پس رااووتو نو مرئے کړئ هغه شيطان دے.

بَابُ اسْتِحْبَابِ قَتْلِ الْوَزَغِ

باب: د ګرګټ (کربوړے) وژل مستحب دی

عَنْ أُمِّ شَرِيكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهَا بِقَتْلِ الْأَوْزَاغِ

د ام شريك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ هغوی ته حکم اوکړو د ګرګټو د وژلو.

عَنْ أُمِّ شَرِيكٍ أَنَّهَا اسْتَأْمَرَتِ النَّبِيَّ ﷺ فِي قَتْلِ الْوِزْغَانِ فَأَمَرَ بِقَتْلِهَا وَأُمُّ شَرِيكٍ إِحْدَى نِسَاءِ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ اتَّفَقَ لَفْظُ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي خَلَفٍ وَعَبْدِ بْنِ حُمَيْدٍ وَحَدِيثُ ابْنِ وَهْبٍ قَرِيبٌ مِنْهُ

د ام شريك نه روايت دے چه هغوی اجازت اوغوښتو د رسول الله ﷺ نه د ګرګټو (کربوړے) د وژلو. حضرت ﷺ حکم ورکړو هغوی ته د هغے د وژلو. دا ام شريك د بنی عامر د قبيلے يوه ښځه وه. او د ابن ابی خلف او عبد بن حميد د حديث الفاظ يو دی. او د ابن وهب حديث دے ته نزدے دے.

عَنْ سَعْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ وَسَمَّاهُ فُوَيْسِقًا

د سعد نه روايت دے چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو د ګرګټ د وژلو او د هغهٔ نوم ئے فويسق کيښودو. (يعنی وروکے فاسق)

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْوَزَغِ الْفُوَيْسِقُ زَادَ حَرْمَلَةُ قَالَتْ وَلَمْ أَسْمَعْهُ أَمَرَ بِقَتْلِهِ

د ام المؤمنین حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے چه رسول الله ﷺ گرگټ ته فویسق ونیلے دے. حرمله وائی ما دا نۀ دی اوریدلی چه حضرت ﷺ حکم ورکړے دے د هغۀ د وژلو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَتَلَ وَزَغَةً فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ فَلَهُ كَذَا وَكَذَا حَسَنَةً وَمَنْ قَتَلَهَا فِي الضَّرْبَةِ الثَّانِيَةِ فَلَهُ كَذَا وَكَذَا حَسَنَةً لِدُونِ الْأُولَى وَإِنْ قَتَلَهَا فِي الضَّرْبَةِ الثَّالِثَةِ فَلَهُ كَذَا وَكَذَا حَسَنَةً لِدُونِ الثَّانِيَةِ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه گرگټ په رومبی گذار مړ کړی هغۀ له دومره دومره ثواب دے او څوک چه ئے په دویم گذار مړ کړی هغۀ له دومره دومره ثواب دے لیکن د رومبی خل نه کم او څوک چه ئے په دریم گذار مړ کړی هغۀ له دومره دومره ثواب دے لیکن د دویم خل نه کم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيْثِ خَالِدٍ عَنْ سُهَيْلٍ إِلَّا جَرِيْرًا وَحْدَهُ فَإِنَّ فِي حَدِيْثِهِ مَنْ قَتَلَ وَزَغًا فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَفِي الثَّانِيَةِ دُوْنَ ذٰلِكَ وَفِي الثَّالِثَةِ دُوْنَ ذٰلِكَ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی (مخکښ حدیث) د خالد د حدیث پشان چه هغۀ د سهل نه روایت کړے دے. او صرف د جریر په حدیث کښ دی چه چا گرگټ (کربوړے) لره په اول گذار مړ کړو نو د هغۀ سل نیکئ به اولیکلے شی او په دویم خل کښ د هغے نه کم او په دریم خل کښ د هغے نه کم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ سَبْعِيْنَ حَسَنَةً

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په اول گذار باندے چه څوک گرگټ مړ کړی نو د هغۀ دپاره اویا نیکئ لیکلے شی[1].

بَابُ النَّهْيِ عَنْ قَتْلِ النَّمْلِ

باب: د میږی د وژلو ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ نَمْلَةً قَرَصَتْ نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَأَمَرَ بِقَرْيَةِ النَّمْلِ فَأُحْرِقَتْ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه یو میږی یو پیغمبر اوچیچو هغوی حکم اوکړو او د میږو تول کور اوسیزلے شو. پس الله تعالی په هغوی باندے وحی نازله کړه چه د

[1] نووی ونیلی دی گرگټ (کربوړے) چا ته چه وزغ او سام ابرص هم ونیلے شی د هغۀ د قتل حکم ئے ورکړو خکه چه هغه موذی دے. او په یو روایت کښ چه کوم د سلو نیکو ذکر دے او په بل کښ د اویاوو نو په دے کښ تعارض نشته دے خکه چه غرض حصر نۀ دے یا به دا دلیے وی چه مخکښ به د اویاوو نیکو ذکر وی بیا الله تعالی سوا کړے وی یا به دلیے اووایو چه خنو ته به د اویاوو ثواب وی او خنو لره د سلو په اعتبار د ښۀ نیت او اخلاص د مرتبو. د بخاری په روایت کښ دی چه هر کله ابراهیم علیه السلام په اور کښ اچولے شوے وو. نو تولو خناورو اور لره مړ کولو. لیکن گرگټ اور لره په پوکو پوکو تیزولو په دے واسطه دد غه بد ذاته په وژلو کښ ثواب دے.

فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ أَفِي أَنْ قَرَصَتْكَ نَمْلَةٌ أَهْلَكْتَ أُمَّةً مِنَ الْأُمَمِ تُسَبِّحُ

ميږى په يو تك باندے تا يو امت هلاك كړو چه هغه د الله پاكى بيانوى[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَزَلَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ تَحْتَ شَجَرَةٍ فَلَدَغَتْهُ نَمْلَةٌ فَأَمَرَ بِجِهَازِهِ فَأُخْرِجَ مِنْ تَحْتِهَا ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَأُحْرِقَتْ فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ فَهَلَّا نَمْلَةً وَاحِدَةً

د حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه يو پيغمبر د پيغمبرانو نه د يوے اونے د لاندے كوز شو. هغه يو ميږى اوچيچو. هغوى حكم اوكړو د ميږو هغه كور رااوويستے شو بيا هغوى حكم اوكړو هغه اوسيزلے شو. پس الله تعالى هغوى ته وحى رااوليږله چه يو ميږى ته به تا سزا وركړے وه (كوم چه چيچلے وے د نورو څۀ قصور وو)

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ تَحْتَ شَجَرَةٍ فَلَدَغَتْهُ نَمْلَةٌ فَأَمَرَ بِجِهَازِهِ فَأُخْرِجَ مِنْ تَحْتِهَا وَأَمَرَ بِهَا فَأُحْرِقَتْ فِي النَّارِ قَالَ فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ فَهَلَّا نَمْلَةً وَاحِدَةً

همام بن منبه اووے چه دا هغه حديث دے چه مونږ ته د رسول الله ﷺ نه ابوهريرهؓ بيان كړو. هغوى څو حديثونه بيان كړل يو په هغوى كښ دا دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. چه يو نبى عليه الصلوٰة و السلام د يوے اونے لاندے راكوز شو نو يو ميږى هغوى لره اوچيچو نو هغوى حكم اوكړو د هغوى د كور د راوبسكلو. هغه زااوبسكلے شو او اوسوزولے شو نو الله تعالى هغوى ته وحى اوكړه چه ولے دِ يو ميږى ته سزا ورنكړه.

بَابُ تَحْرِيمِ قَتْلِ الْهِرَّةِ

باب : د پيشو د وژلو ممانعت

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ سَجَنَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ لَا هِيَ أَطْعَمَتْهَا وَسَقَتْهَا إِذْ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى يوه ښځه د پيشو په وجه په عذاب شوله چه هغے پيشو تړلے وه ترد ے پورے چه هغه مړه شوه. بيا د هغه پيشو په وجه هغه جهنم ته لاړه. (
قاضى عياضؒ وائى كيد ے شى هغه به كافره وه. او په دے قصور

[1] بيا كچرے الله تعالى د يو امت د شرك او كفر په وجه سره هغوى تباه كړى او په هغوى كښ دوه څلور ښۀ خلق هم تباه شى نو ولے څۀ لرے ده.

نوويؒ وئيلى دى زمونږ په مذهب كښ د ميږى قتل جائز نه دے. او په دے كښ يو حديث دے د ابن عباسؓ چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده د ميږى او د گبين د مچۍ او د هُد هُد او مارغۀ د وژلو نه روايت كړے دے دے لره ابوداؤد په اسناد صحيح د بخارى او مسلم په شرط باندے.

حَبَسَتْهَا وَلاَ هِيَ تَرَكَتْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ

سره به د هغے سزا نوره زياته شوے وی. نووی وائی صحيح داده چه هغه مسلمانه وه ليکن دد ے گناه په وجه سره هغه جهنم ته لاړه. او دا گناه صغيره نه ده بلکه دد ے په اصرار سره کبيره شوه او په حديث کښ دا نشته د ے چه هغه به هميشه په جهنم کښ وی، هغے هغه پيشو له نه خوراك ورکوو نه اوبه خو بس قيد کړے ئے وه. نه ئے هغے له پريخوده چه د زمکے خزنده ئے خوړلے وے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذٰلِكَ

عبد الله بن عمر د نبی اکرم ﷺ نه دغه حديث روايت کړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ لَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَسْقِهَا وَلَمْ تَتْرُكْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ

د ابوهريره نه روايت د ے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی يوه ښځه په عذاب شوه د يوے پيشو د وجے نه چه هغے له ئے نه خوراك ورکوو نه اوبه نه ئے هغے له پر ے خوده چه د زمکے ځناور ئے خوړلے وے.

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمَا رَبَطَتْهَا وَفِي حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ حَشَرَاتِ الأَرْضِ

د هشام نه په دغه اسناد سره روايت د ے. او په د ے کښ دی رَبَطَتْهَا (هغے هغے له تړلے وه) او د ابومعاويه په حديث کښ حَشَرَاتُ الأَرْضِ د ے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِمَعْنَى حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ

ابوهريره د رسول الله ﷺ نه د هشام بن عروه د حديث هم معنی حديث روايت کړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ

ابوهريره د نبی ﷺ نه د پورتنو راويانو د حديث پشان حديث روايت کړو.

بَابُ فَضْلِ سَقْيِ الْبَهَائِمِ وَإِطْعَامِهَا

باب : په ځناورو د خوړلو او څښولو فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ فَوَجَدَ بِئْرًا فَنَزَلَ فِيهَا فَشَرِبَ ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ يَأْكُلُ

د ابوهريره نه روايت د ے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه يو سړے په لاره روان وو ډير تږے شوے وو (په لاره کښ) يو کوهے ئے اوموندو او هغے ته ورکوز شو او اوبه ئے اوڅښلے او بيا راوختو. نو يو سپے ئے اوليدو چه ژبه ئے راايستلے وه خرشيدهٔ (د تندے د وجے نه) او لوند ے

الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ فَقَالَ الرَّجُلُ لَقَدْ بَلَغَ هٰذَا الْكَلْبَ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلُ الَّذِي كَانَ بَلَغَ مِنِّي فَنَزَلَ الْبِئْرَ فَمَلَأَ خُفَّهُ مَاءً ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ حَتّٰى رَقِيَ فَسَقَى الْكَلْبَ فَشَكَرَ اللّٰهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَإِنَّ لَنَا فِي هٰذِهِ الْبَهَائِمِ لَأَجْرًا فَقَالَ فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ امْرَأَةً بَغِيًّا رَأَتْ كَلْبًا فِي يَوْمٍ حَارٍّ يُطِيفُ بِبِئْرٍ قَدْ أَدْلَعَ لِسَانَهُ مِنَ الْعَطَشِ فَنَزَعَتْ لَهُ بِمُوقِهَا فَغُفِرَ لَهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا كَلْبٌ يُطِيفُ بِرَكِيَّةٍ قَدْ كَادَ يَقْتُلُهُ الْعَطَشُ إِذْ رَأَتْهُ بَغِيٌّ مِنْ بَغَايَا بَنِي إِسْرَائِيلَ فَنَزَعَتْ مُوقَهَا فَاسْتَقَتْ لَهُ بِهِ فَسَقَتْهُ إِيَّاهُ فَغُفِرَ لَهَا بِهِ

ختمے ئے خوړلے. هغه سړی اووے ددے سپی حال به د تندے د وجے نه داسے وی لکه څنګه چه خما حال وو. بیا هغه کوهی ته کوز شو او خپله کوزه ئے د اوبو نه ډکه کړه او په خلهٔ کښې ئے اونیوه او واپس راواختو. او هغه اوبهٔ ئے په سپی اوڅښلے الله تعالیٰ د هغه نیکی قبوله کړه او هغه ئے اوبخښلو. خلقو عرض اوکړو چه یا رسول اللهؐ مونږ ته ددے خناورو په خوړلو او څکولو کښې هم ثواب دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل. په هر لوند ځیګر والا کښې ثواب دے. (یعنی د هر ځاروی چه موذی نهٔ وی)

د ابوهریرهؓ نه روایت دے هغه روایت کوی د نبی ﷺ نه چه یو سرکشه ښځے د ګرمۍ په ورځو کښې یو سپے اولیدو چه د کوهی نه چاپیره چورلیدو او ژبه ئے بهر راویستے وه د تندے نه هغه ښځے په خپله موزه کښې اوبهٔ راوویستے او په هغه سپی ئے اوڅښلے الله تعالیٰ هغے له اوبخښله

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یو سپے د یو کوهی په غاړه چاپیره چورلیدهٔ چه د تندے د وجے نه مرګ ته نژدے شوے وو. هغهٔ له د بنی اسرائیلو یو بدعمله اولیدهٔ نو خپله موزه کښې ئے اوبهٔ راوویستے او په هغهٔ ئے اوڅښلے الله تعالیٰ ددغے نیکۍ په بدله کښې هغه اوبخښهٔ

كِتَابُ الْأَلْفَاظِ مِنَ الْأَدَبِ وَغَيْرِهَا

د ادب د الفاظو وغیره کتاب

بَابُ النَّهْيِ عَنْ سَبِّ الدَّهْرِ

باب: زمانې ته د بدو وئیلو ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَسُبُّ ابْنُ آدَمَ الدَّهْرَ وَأَنَا الدَّهْرُ بِيَدِي اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیل ئے الله تعالی فرمائیلی دی چه بد بنیادم بد وائی زمانې ته حالانکه زمانه خو ما په لاس کښې ده. شپه او ورځ خو ما په اختیار کښې دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ يَسُبُّ الدَّهْرَ وَأَنَا الدَّهْرُ أُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی فرمائی. بنیادم ما ته ضرر راکوی چه زمانې ته کنځل کوی او زۀ په خپله زمانه یم (یعنی د زمانې نه څۀ کار نۀ شی کیدے بلکه کار کولو والا زۀ یم)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ يَقُولُ يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَلَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَإِنِّي أَنَا الدَّهْرُ أُقَلِّبُ لَيْلَهُ وَنَهَارَهُ فَإِذَا شِئْتُ قَبَضْتُهُمَا

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله جل جلاله ارشاد فرمائی تکلیف راکوی ما ته چه بنیادم وائی هائے د زمانې کمبختی: نو څوك د ستاسو نه داسے نۀ وائی هائے د زمانې کمبختی: ځکه چه زمانه زۀ یم، شپه او ورځ راولم او هرکله چه زۀ اوغوارم نو شپه او ورځ به موقوف کړم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَإِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك د ستاسو نه داسے نۀ وائی چه اے د زمانې کمبختی: ځکه چه زمانه خو خاص د الله په لاس کښې ده[1].

---

[1] نووی رحمه الله وائی دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه الله تعالی پخپله زمانه ده. دائے مجازاً اوفرمائیل او دا دے سبب دادے چه د عربو خلقو به د مصیبت او تکلیف په وخت زمانې ته بد وئیل حضرت ﷺ اوفرمائیل زمانې ته بد مۀ وایئ: ځکه چه الله تعالی زمانه ده. یعنی تاسو چه چالره د مصیبتونو راوستونکے او تکلیف رسونکے ګڼړئ دهغه په حقیقت کښې څۀ اختیار نشته دے بلکه فاعل الله دے نو ستاسو بد وئیل او کنځل کول به الله کیږی (معاذ الله)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَسُبُّوا الدَّهْرَ فَإِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هیڅوك دِ بد نۀ وائی ستاسو نه زمانے ته ځکه چه الله تعالی پخپله زمانه ده. (یعنی زمانه څۀ نۀ شی کولے کونکے الله دے)

بَابُ كَرَاهَةِ تَسْمِيَةِ الْعِنَبِ كَرْمًا

باب : انګورو ته د کرم وئیلو ممانعت[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَسُبُّ أَحَدُكُمُ الدَّهْرَ فَإِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ وَلَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ لِلْعِنَبِ الْكَرْمَ فَإِنَّ الْكَرْمَ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی ستاسو نه دِ څوك زمانے ته بد نۀ وائی ځکه چه صرف د الله په لاس کښې زمانه ده. او هر څۀ صرف الله کوی بیا زمانے ته بد وئیل معاذ اللهؒ الله ته بد وئیل دی. او څوك دِ ستاسو نه انګوو ته کرم نۀ وائی. ځکه چه کرم مسلمان بنیادم ته وئیلے شی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُولُوا كَرْمٌ فَإِنَّ الْكَرْمَ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی انګورو ته کرم مۀ وایئ، ځکه چه کوم د مسلمان زړۀ دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُسَمُّوا الْعِنَبَ الْكَرْمَ فَإِنَّ الْكَرْمَ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی انګور ته کرم مۀ واویئ ځکه چه کرم مسلمان سړی ته وئیلے شی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمُ الْكَرْمَ فَإِنَّمَا الْكَرْمُ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی څوك دِ ستاسو نه کرم انګورو ته نۀ وائی. ځکه چه کرم د مؤمن زړۀ دے.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ

همام بن منبه اووے چه ابوهریرهؓ مونږ ته د رسول اللهﷺ یو څو احادیث بیان کړل په د هغوی نه دا دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی څوك د ستاسو نه انګورو ته کرم نۀ وائی کرم خو مسلمان

[1] د عربو خلقو به انګور ته او د انګور و شرابو ته کرم وئیل. د کرم معنی ده بزرګی او عزت او مهربانی. د هغوی دا خیال وو چه په شرابو څکلو سره هم په انسان کښې کرم پیدا کیږی. ځکه به ئے پخپله انګور ته او د هغے شرابو ته کرم وئیل هر کله چه شراب حرام شو نو حضرتﷺ د انګور دپاره دد ے نوم د بدلولو هم ممانعت اوفرمائیلو په دی خیال سره چه دا نوم د شرابو یاد نۀ راولی. بله دا چه د شرابو عزت او نۀ کړے شی

لِلْعِنَبِ الْكَرْمَ إِنَّمَا الْكَرْمُ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ

سړے دے.

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُولُوا الْكَرْمُ وَلَكِنْ قُولُوا الْحَبَلَةُ يَعْنِي الْعِنَبَ

د وائل بن حجر ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کرم مهٔ وایئ بلکه حبله وایئ (یعنی انګورو ته)

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُولُوا الْكَرْمَ وَلَكِنْ قُولُوا الْعِنَبُ وَالْحَبَلَةُ

د وائل بن حجر ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کرم مهٔ بلکه عنب یا حبله وایئ (انګورو ته)

بَابُ حُكْمِ إِطْلَاقِ لَفْظَةِ الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ وَالْمَوْلَى وَالسَّيِّدِ

باب: عبد یا اَمَة یا مولی یا سیّد ددے الفاظو د وئیلو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ عَبْدِي وَأَمَتِي كُلُّكُمْ عَبِيدُ اللهِ وَكُلُّ نِسَائِكُمْ إِمَاءُ اللهِ وَلَكِنْ لِيَقُلْ غُلَامِي وَجَارِيَتِي وَفَتَايَ وَفَتَاتِي

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ستاسو نه د هیڅ یو کس خپلو غلامانو ته داسے نهٔ وائی چه خما عبد یعنی خما بنده او خپلے وینځے ته د خما امته یعنی خما بندے. تاسو ټول د الله تعالی بندیګان یئ او ستاسو ښځے د الله تعالی بندیګانے دی. لیکن داسے وئیل پکار دی خما غلام او خما وینځه خما خوان سړے او خما خوانه ښځه[1]

[1] په بل روایت کښ دی غلام به هم داسے نهٔ وائی چه خما رب. بلکه داسے دِ وائی خما سید. نووی ؒ وائی ددے حدیث نه دوه خبرے مقصود دی. یو خو غلام ته ممانعت خپل آقا ته د رب وئیلو نه خکه چه د رب معنیٰ خالق رازق او الله دے. او په حدیث کښ چه کوم راغلی دی چه وینځه به خپل رب لره زیږوی. دغه شان جواب ئے په دوه طریقے سره ورکړے دے. یو خو دا چه رب وئیل جائز دی او ممانعت ئے تنزیهی دی نهٔ تحریمی. دویم دا چه ممانعت ددے لفظ په اکثر وئیلو سره دے نهٔ په شاذ نادر وئیلو سره. قاضی عیاض دغه جواب لره اختیار کړے دے او په سید وئیلو سره ممانعت نشته دے خکه چه د سید لفظ د الله تعالی سره خاص نهٔ دے بلکه خو د سید اطلاق په الله تعالی باندے مکروه ایخودے دے. او حضرت ﷺ فرمائیلی دی امام حسن ؓ ته چه دا خما خوئ سید دے او فرمائیلی دی پورته شئ د خپل سید دپاره یعنی د سعد بن معاذ ؓ دپاره دغه شان د مولی د وئیلو نه. خکه چه د مولی شپاړس معنے دی بل مقصود دا دے چه سید به خپلے وینځے او غلام ته عبد او امته نهٔ وائی خکه چه عبودیت حقیقی خاص دے انتهیٰ مختصراً. ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه عبد النبی یا عبد حسن یا عبد محمد یا بندهٔ حسن یا بندهٔ علی داسے نوم ایخودل مکروه دی. اګر کهٔ د نوم ایخودلو والانیت د عبد نه عبودیت حقیقی نهٔ وی بلکه د غلام معنی وی. او کچری د عبودیت نیت ئے وو نو نوم ایخودونکے مشرک او کافر دے او غلام حسن غلام حسین غلام علی دا نومو نه ایخودل اګر چه صحیح دی خو د سنتو موافق نهٔ دی او په دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ عَبْدِي فَكُلُّكُمْ عَبِيدُ اللهِ وَلَكِنْ لِيَقُلْ فَتَايَ وَلَا يَقُلِ الْعَبْدُ رَبِّي وَلَكِنْ لِيَقُلْ سَيِّدِي

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی خوك د ستاسو نه داسے نه وائی چه خما بنده ځکه چه تاسو ټول د الله تعالی بندیګان یئ. بلکه داسے وائی خماخوانه. او نه غلام د داسے وائی چه خما رب. بلکه داسے د وائی خما سیّده.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمَا وَلَا يَقُلِ الْعَبْدُ لِسَيِّدِهِ مَوْلَايَ وَزَادَ فِي حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ فَإِنَّ مَوْلَاكُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ

د اعمش نه په دغه اسناد سره روایت دے په دے کښې دادی چه غلام د خپل مولی ته سیّد نه وائی. ځکه چه مولی ستاسو الله تعالی دے[1].

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يَقُلْ أَحَدُكُمُ اسْقِ رَبَّكَ أَطْعِمْ رَبَّكَ وَضِّئْ رَبَّكَ وَلَا يَقُلْ أَحَدُكُمْ رَبِّي وَلْيَقُلْ سَيِّدِي مَوْلَايَ وَلَا يَقُلْ أَحَدُكُمْ عَبْدِي أَمَتِي وَلْيَقُلْ فَتَايَ فَتَاتِي غُلَامِي

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی خوك د په تاسو کښې داسے نه وائی (خپل غلام ته) اوبه اوڅکوه په خپل رب یا دوډئ اوخوره په خپل رب باندے. او خوك د ستاسو نه بل ته خپل رب نه وائی بلکه سید یا مولی د وائی. او خوك د ستاسو نه داسے نه وائی چه خما بنده یا خما بندے. بلکه خوان سړے یا خوانه ښځه د وائی.

بَابُ كَرَاهَةِ قَوْلِ الْإِنْسَانِ خَبُثَتْ نَفْسِي

باب: دا وئیل چه خما نفس پلیت شو مکروه دی

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ خَبُثَتْ نَفْسِي وَلَكِنْ لِيَقُلْ لَقِسَتْ نَفْسِي هَذَا حَدِيثُ أَبِي كُرَيْبٍ وَ قَالَ

د ام المؤمنین حضرت عائشے صدیقےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی خوك د نه وائی چه خما نفس خبیث شو (یعنی پلیت او نجس) بلکه داسے د وائی چه خما نفس کاهل او سُست شو. (خبیث او پلیت د کافر لقب دے او ډیر کریهه لفظ دے. ځکه ئے مسلمان خپل

نومونو کښې و قسم له دروغ هم دی ځکه چه غلامی چه د کوم رقیت مترادف ده هغه نه شی موندلے البته د غلام مجازی معنی د خادم او خدمت کونکی جوړیدے شی. پس غوره داده چه عبد الله ، عبد الرّحمن وغیره د کومے نه چه د الله عبودیت ظاهریږی یا د پیغمبرانو نومونه کیږدی. لکه د موسی، عیسی ، ابراهیم، صالح ، او لوط ، هود وغیره د نارینه دپاره اوږدی او د زنانه دپاره مریم، زینب، خدیجه، فاطمه، حلیمه، وغیره نومونه ایخودل غوره دی.

[1] نوویؒ دا عبارت په نورو روایتونو کښې نشته دے. او دا دے حذف زیات صحیح دے او د مولی اطلاق سوا د الله نه په نورو باندے راغلے دے

أَبُو بَكْرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْ لٰكِنْ

خان ته دد ے لفظ د ونيلو نه منع كړے د ے. او په يو حديث كښ چه راغلى دى چه بيا سحر پاځى خبيث النفس نو هغه د غير صفت د ے او د مبهم سړى بيان د ے چه داسے اطلاق منع نه د ے)

عَنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ عَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَقُلْ أَحَدُكُمْ خَبُثَتْ نَفْسِي وَلْيَقُلْ لَقِسَتْ نَفْسِي

د ابومعاويه نه په دغه اسناد سره د سهل بن حنيف روايت د ے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى په تاسو كښ د څوك سړے دا نه وائى چه خما نفس خبيث (پليت) شو. بلكه دا ونيل پكار دى چه خما نفس سست شو.

بَابُ اسْتِعْمَالِ الْمِسْكِ وَكَرَاهَةِ رَدِّ الرَّيْحَانِ وَالطِّيبِ

باب: د مشك بيان او د خوشبويئ د واپس كولو ممانعت

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ امْرَأَةٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ قَصِيرَةٌ تَمْشِي مَعَ امْرَأَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ فَاتَّخَذَتْ رِجْلَيْنِ مِنْ خَشَبٍ وَخَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ مُغْلَقٌ مُطْبَقٌ ثُمَّ حَشَتْهُ مِسْكًا وَهُوَ أَطْيَبُ الطِّيبِ فَمَرَّتْ بَيْنَ الْمَرْأَتَيْنِ فَلَمْ يَعْرِفُوهَا فَقَالَتْ بِيَدِهَا هٰكَذَا وَنَفَضَ شُعْبَةُ يَدَهُ

د ابوسعيد خدرى رض نه روايت د ے رسول الله ﷺ فرمائيلى دى د بنى اسرائيلو په قوم كښ يوه مكاره ښځه وه. تله به د دوو دنګو ښځو سره نو هغے به د لرګى جوړے كړے دوه كهراوے پښپو كولے او د سروزرو خول والا ګوته ئے جوړه كړے وه هغه به ئے په ګوته كښ اچولے وه. او په هغے كښ ئے مشك ډك كړى وو او هغه خو ډيره مزيداره خوشبوئ ده. بيا به تله د هغه دوارو ښځو په مينځ كښ نو خلقو به هغه نه پيژنده. هغوى په خپل لاس سره دسے اشاره كوله شعبه كوم چه دد ے حديث راوى د ے خپل لاس ئے خالى كړو او د هغے ښځے اشاره ئے اوښوده[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ

د ابوسعيد خدرى رض نه روايت د ے چه رسول الله ﷺ د بنى

---

[1] به د ے حديث كښ حضرت ﷺ دا فرمائيلى دى چه مشك مزيداره خوشبوئى ده او دغه د باب مقصود د ے. نووى رح وائى مشك پاك دى او د هغے استعمال په بدن او كپړه كښ صحيح د ے او د هغے خرخول په اجماع سره جائز د ے. او مشك د هغه قاعد ے نه مستثنى دى چه كوم څيز د ژوندى څناور نه جدا كړے شى هغه مردار د ے يا د مشك حكم پشان د انډے او بچى او پيو د ے. او هغے ښځے چه كومے د لرګى كهراوے پښپو كولے او خپل ځان ئے دنګولو. دد ے غرض كچرے خپل ځان پټول وى چه د خلقو د ضرر نه بچ شى نو دا جائز دى او كچرے د فخر يا لويئ يا د ښودلو دپاره ئے كوى نو حرام دى.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ امْرَأَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ حَشَتْ خَاتَمَهَا مِسْكًا وَالْمِسْكُ أَطْيَبُ الطِّيبِ

اسرائیلو د یوے ښځے ذکر اوکړو چه هغے په خپله ګوته کښې مشك اچولے وو. او مشك بهترین خوشبوئی ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ رَيْحَانٌ فَلَا يَرُدَّهُ فَإِنَّهُ خَفِيفُ الْمَحْمِلِ طَيِّبُ الرِّيحِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي چا له چه خوشبودار واښهٔ ورکړے شي یا خوشبودار ګلونه ورکړے شي نو هغه دِ نهٔ واپس کوی ځکه چه د هغے څهٔ بوجهه نشته او خوشبوئی ئے مزیداره ده.

عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا اسْتَجْمَرَ اسْتَجْمَرَ بِالْأَلُوَّةِ غَيْرَ مُطَرَّاةٍ وَبِكَافُورٍ يَطْرَحُهُ مَعَ الْأَلُوَّةِ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا كَانَ يَسْتَجْمِرُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نافع نه روایت دے چه عبد الله بن عمرؓ چه به هر کله د خوشبوئی لوګے کوو نو د عودو به ئے کوو چه په هغے کښې به نور څهٔ میلاؤ نهٔ وو. یا به ئے د کافورو کوؤ هغه به ئے د عودو سره غورځول بیا به ئے وئیل رسول اللهﷺ به هم دغسے خوشبو اخستله

كِتَابُ الشِّعْرِ

کتاب د شعر په بیان کښې

عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَدِفْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ هَلْ مَعَكَ مِنْ شِعْرِ أُمَيَّةَ بْنِ أَبِي الصَّلْتِ شَيْءٌ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ هِيهِ فَأَنْشَدْتُهُ بَيْتًا فَقَالَ هِيهِ ثُمَّ أَنْشَدْتُهُ بَيْتًا فَقَالَ هِيهِ حَتَّى أَنْشَدْتُهُ مِائَةَ بَيْتٍ

د عمرو بن شرید نه روایت دے هغوی اوریدلی دی د خپل پلار نه هغهٔ به وئیل چه زهٔ د رسول الله ﷺ سره یوه ورځ سور شومه حضرت ﷺ اوفرمائیل. تا ته د امیه بن ابی الصلت څهٔ شعرونه یاد دی ما اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل اووایه ما یو بیت اولوستلو حضرت ﷺ اوفرمائیل نور اووایه ما بیا یو بیت اولوستو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نور اووایه تردے پورے چه ما سل بیتونه اولوستل

عَنِ الشَّرِيدِ قَالَ أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلْفَهُ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ

شرید نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په سورلئ باندے زهٔ شاته کینبنولم. پس (مخکښې) د پورتنی حدیث پشان بیان دے.

عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ اسْتَنْشَدَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مَيْسَرَةَ وَزَادَ قَالَ إِنْ كَادَ لَيُسْلِمُ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ مَهْدِيٍّ قَالَ فَلَقَدْ كَادَ يُسْلِمُ فِي شِعْرِهِ

عمر بن شرید د خپل پلار رضی الله عنه نه روایت کړے دے. هغوی وائی چه رسول الله ﷺ ما ته د شعر د اورولو فرمائش اوکړو (مخکښې حدیث) د ابن میسره د حدیث پشان او په دے کښې دا زیاته ده چه نژدے وه چه هغه مسلمان کیدهٔ او د ابن مهدی په حدیث کښې دی چه هغه په خپل شعر کښې اسلام بیانوی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَشْعَرُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَتْ بِهَا الْعَرَبُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلٌ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے د تولو نه مزیدار شعر چه د عربو خلقو وئیلے دے د لبید دا کلام دے (لبید بن ربیعه یو صحابی شاعر وو) د هغے ترجمه په پښتو کښې داده چه ما سوا د حق نه هر یو شے بے فائدے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

---

[1] نووی وائی د دے حدیث نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ د اُمیه بن ابی الصلت شعرونو له زیات غوره کړل او د زیاتو لوستلو خواهش ئے اوکړو خکه چه په هغے کښې د توحید الهی او د حشر اقرار وو د دے نه معلومه شوه چه په کوم شعر کښې فحش مضمون نه وی د هغے لوستل او اوریدل جائز دی اګر که د جاهلیت د زمانے شعر وی او بده داده چه بد (فحش) ډیر شعر لولی یا ډیر شعرونه یادوی لیکن په لږ کښې څهٔ قباحت نشته

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا شَاعِرٌ كَلِمَةُ لَبِيدٍ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ وَكَادَ أُمَيَّةُ بْنُ أَبِي الصَّلْتِ أَنْ يُسْلِمَ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د ټولو نه رښتونے كلام چه كوم شاعر ونيلے دے، د لبيد كلام دے چه هر څيز سوا د حق تعالى نه لغوه دے. او حضرت ﷺ اوفرمائيل چه د ابوالصلت خوئ قريبه وه چه اسلام راوړے وے (ځكه چه د هغهٔ عقائد ښهٔ وو خو هغه د اسلام نه محرمه پاتے شو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَصْدَقُ بَيْتٍ قَالَهُ الشَّاعِرُ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ وَكَادَ ابْنُ أَبِي الصَّلْتِ أَنْ يُسْلِمَ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. چه د ټولو نه رښتونے شعر چه يو شاعر ونيلے دے هغه دا دے أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ. او نږدے وه چه ابن الصلت مسلمان شوے وے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَصْدَقُ بَيْتٍ قَالَتْهُ الشُّعَرَاءُ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ

د ابوهريره نه روايت دے هغوى اووے. ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه حضرت ﷺ فرمائيل. د ټولو نه رښتونے شعر چه شاعرانو ونيلے دے دا دے أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَصْدَقَ كَلِمَةٍ قَالَهَا شَاعِرٌ كَلِمَةُ لَبِيدٍ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ مَا زَادَ عَلَى ذٰلِكَ

د ابوهريره نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د ټولو نه رښتونے خبره چه كوم شاعر ونيلے ده هغه د وليد خبره ده أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ (سوا د الله نه هر څيز لغو دے) په دے ئے نور څهٔ زيات نه كړل.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ الرَّجُلِ قَيْحًا يَرِيهِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ إِلَّا أَنَّ حَفْصًا لَمْ يَقُلْ يَرِيهِ

د ابوهريره نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. كچرے د يو سړي ګيډه د وينو زوؤ نه ډكه شي ترد ے پورے چه د هغهٔ پرپوسانو نه اورسي دا د هغهٔ په حق كښ غوره ده پخپله ګيډه كښ د شعر ډكولو نه

عَنْ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ أَحَدِكُمْ قَيْحًا يَرِيهِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا

د سعد نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي كچرے د يو سړي خيټه د پيپ نه ډكه شي دا دے نه غوره ده چه د شعرونو نه ډكه شي[1]

---

[1] نووي ونيلي دي دد ے حديث معنى داده چه انسان په شعر ويلو يا په شعر خوانۍ كښ داسے مصروف شي چه دا علوم شرعيه او تلاوت قران پاك او د حديثو فرصت نه مومي. او كهٔ د قران او حديث سره ورته لږ شان شعرونه هم يادوي نو څهٔ قباحت نشته دے. ځكه چه د هغهٔ ګيډه د شعر نه ډكه نهٔ ده. ځنے علماؤ مطلقًا شعر ته مكروه ونيلي دي. اګر كهٔ په هغے كښ فحش نهٔ وي او د اكثرو قول دادے

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَا نَحْنُ نَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَرْجِ إِذْ عَرَضَ شَاعِرٌ يُنْشِدُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ خُذُوا الشَّيْطَانَ أَوْ أَمْسِكُوا الشَّيْطَانَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه مونږ د عرج په مینځ کښې د رسول الله ﷺ سره روان وو (عرج د مدینې نه اتۀ اویا میله لرې یو کلے دے) چه په دے کښې یو شاعر مخې له راغے چه هغه شعر لوستلو. حضرت ﷺ اوفرمائیل. دے شیطان لره اونیسئ: کچرے ستاسو نه د چا کیده د وینو زوو نه ډکه شی نو دغه د شعر د ډکیدونه غوره ده.

بَابُ تَحْرِيمِ اللَّعِبِ بِالنَّرْدَشِيرِ

باب: د چوسر لوبه کول حرام دی

عَنْ أَبِي بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدَشِيرِ فَكَأَنَّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحْمِ خِنْزِيرٍ وَدَمِهِ

د بریده نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه د چوسر لوبے کوی هغه چه لکه خپل لاس د سور په غوښه او وینه سره رنګ کوی[1].

چه شعر مباح دے اګر په هغے کښې فحش نۀ وی هغوی وائی شعر هم یو کلام دے ښۀ د هغے مزیدار دی او بد د هغے بد دی. او حضرت ﷺ شعرونه اوریدلی دی او په بل نے لوستل دی او حسان بن ثابت ته نے د مشرکانو په هجو کښې د شعر وئیلو حکم فرمائیلے دے او د حضرت ﷺ صحابؤ د حضرت ﷺ په مخکښې په سفر وغیره کښې شعرونه وئیلی دی او هیچا ترے انکار نۀ دے کړے. البته په بدو شعرونو باندے نے انکار کړے دے او کوم شاعر ته چه حضرت ﷺ شیطان وئیلے دے هغه به د هغه د کفر د وجے نه وی یا به هغه شپه او ورځ په کفر کښې مصروف وی یا به د هغهٔ شعرونه خراب وی

[1] معاذ الله د چوسر حرمت خو صفا دے حدیث نه وتلے دے او د امام شافعیؒ او جمهور علماؤ دغه قول دے چه د چوسر لوبه کول حرام دی او د ابواسحاق مزوری دا قول دے چه هغه مکروه دے او حرام نۀ دے. او شطرنج زمونږ په مذهب کښې مکروه دے حرام نۀ دے او دغه منقول دی د تابعینو د یو جماعت نه او د امام مالكؒ او امام احمدؒ په نز حرام دے امام مالكؒ وئیلی دی شطرنج ډیر زیات بد دے د چوسر نه خکه چ غافله کوی انسان لره د عبادت نه او قیاس کړے هغوی شطرنج لره په چوسر باندے او زمونږ ملګری دے قیاس لره نۀ منی او وائی چه شطرنج د چوسر نه کم دے.

د اردو کتاب مترجم وائی کچرے شطرنج حرام نۀ وی مکروه هم وی بیا هم په داسے صورت کښې چه هر کله د شطرنج په وجه سره په نورو نیکو کارونو کښې خلل نۀ پریوخی او په مونځ کښې هم سستی نۀ راځی خو بیا به هم په اتفاق سره حرام وی په دے لوبو کښې نۀ د دین فائده شته نۀ د دنیا محض لغوه او وخت ضائع کول دی د وخت په شان قیمتی څیز په دنیا کښې یو نشته دے لره په ښۀ او د فائدے په کارونو کښې صرف کوئ

كِتَابُ الرُّؤْيَا

کتاب د خوب په بیان کښې

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ كُنْتُ أَرَى الرُّؤْيَا أُعْرَى مِنْهَا غَيْرَ أَنِّي لَا أُزَمَّلُ حَتَّى لَقِيتُ أَبَا قَتَادَةَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الرُّؤْيَا مِنَ اللهِ وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا حَلَمَ أَحَدُكُمْ حُلْمًا يَكْرَهُهُ فَلْيَنْفُثْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثًا وَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ شَرِّهَا فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ

د ابوسلمهؓ نه روایت دے چه ما خواب لیدلو نو په ما د بخار غوندے حالت راغلے وو مګر کپړے نهٔ شم اغوستلے. تردے پورے چه زهٔ د ابوقتاده سره میلاؤ شوم او هغوی ته مے بیان اوکړو. هغوی اووے ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. ښهٔ خوب د الله تعالی د طرفنه دے او بد خوب د شیطان د طرفنه دے. پس هر کله چه څوك ستاسو نه بد خوب اووینی نو ګس طرفته دِ درے ځله لاړے توکی یا دِ تهو تهو اوکړی (یے د توکلو نه) او په الله تعالی دِ پناه اوغواړی د هغه (خوب) د شر نه بیا به هغه خوب دهٔ له ضرر نهٔ ورکوی.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِهِمْ قَوْلَ أَبِي سَلَمَةَ كُنْتُ أَرَى الرُّؤْيَا أُعْرَى مِنْهَا غَيْرَ أَنِّي لَا أُزَمَّلُ

ابوقتادهؓ د نبیﷺ نه دغسے روایت کوی مګر په دے کښې د ابوسلمه دا قول ذکر کړے شوے نهٔ دے چه ما خوب لیدهٔ نو خما به د تبے په شان حالت وو مګر ما به کپړا نهٔ اغوسته

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِمَا أُعْرَى مِنْهَا وَزَادَ فِي حَدِيثِ يُونُسَ فَلْيَبْصُقْ عَلَى يَسَارِهِ حِينَ يَهُبُّ مِنْ نَوْمِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ

د زهری نه په دغه اسناد سره روایت دے او په دے کښې دا نشته چه خما به د تبے پشان حالت وو. او د یونس په حدیث کښې دا زیاته ده چه دهٔ له پکار دی چه هر کله د خوب نه بیدار شے نو درے ځله ګس طرفته توکه

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الرُّؤْيَا مِنَ اللهِ وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلْيَنْفُثْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ

ابوقتادهؓ وئیلی دی چه واوریدل ما د رسول اللهﷺ نه حضرتﷺ فرمائیل چه ښهٔ خوب د الله تعالی د طرف نه دے او بد خوب د شیطان د طرف نه هر کله چه په تاسو کښې څوك داسے خوب اووینی چه د دهٔ ناخوښه معلوم وی نو

شَرِّهَا فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ فَقَالَ إِنْ كُنْتُ لَأَرَى الرُّؤْيَا أَثْقَلَ عَلَيَّ مِنْ جَبَلٍ فَمَا هُوَ إِلاَّ أَنْ سَمِعْتُ بِهَذَا الْحَدِيثِ فَمَا أُبَالِيهَا

كس طرف ته درے خله د توكى او د الله تعالى نه د پناه اوغواړى دد د بد والى نه نوبيا به هغه دۀ ته څۀ نقصان نۀ رسوى.

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ الثَّقَفِيِّ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ فَإِنْ كُنْتُ لأَرَى الرُّؤْيَا وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ اللَّيْثِ وَابْنِ نُمَيْرٍ قَوْلُ أَبِي سَلَمَةَ إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ وَزَادَ ابْنُ رُمْحٍ فِي رِوَايَةِ هَذَا الْحَدِيثِ وَلْيَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ

د يحيى بن سعيد نه په دغه اسناد سره روايت دے او د ثقفى په حديث كښې دى چه ابوسلمه ؓ وئيلى دى چه ما به خوب ليدۀ. او د ليث او د ابن نمير په حديث كښې د ابوسلمه قول ذكر كړے شوے نۀ دے. او ابن رمح د دےحديث په روايت كښې دا زياته كړے ده چه په كوم طرف اودۀ وے دا خوب د اوليدۀ هغه بدل كړه.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللَّهِ وَالرُّؤْيَا السَّوْءُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَمَنْ رَأَى رُؤْيَا فَكَرِهَ مِنْهَا شَيْئًا فَلْيَنْفُثْ عَنْ يَسَارِهِ وَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ لاَ تَضُرُّهُ وَلاَ يُخْبِرْ بِهَا أَحَدًا فَإِنْ رَأَى رُؤْيَا حَسَنَةً فَلْيُبْشِرْ وَلاَ يُخْبِرْ إِلاَّ مَنْ يُحِبُّ

د ابوقتادهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. ښۀ خوب د الله تعالى د طرفنه دے او بد د شيطان د طرفنه پس څوك چه خوب اووينى او بد ورته ښكاره شى نو كس طرف ته د درے خله تو تو اوكړى او اعوذ بالله من الشيطان الرجيم د اووائى. اوس به هغه خوب دۀ ته ضرر نۀ ور كوى او پكار ده چه هغه خوب هيچا ته بيان نۀ كړى او كچرے نيك خوب اووينى نو خوشحاله د شى او هغه چا ته د بيان كړى چه دوست وى[1]

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ إِنْ كُنْتُ لأَرَى الرُّؤْيَا تُمْرِضُنِي قَالَ فَلَقِيتُ أَبَا قَتَادَةَ فَقَالَ وَأَنَا كُنْتُ لأَرَى الرُّؤْيَا فَتُمْرِضُنِي حَتَّى سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابوسلمهؓ نه روايت دے چه ما به څنې خوب داسې اوليدۀ چه بيمار به شوم (د هغې د يرے نه) بيا زۀ د ابوقتادهؓ سره ميلاؤ شوم هغوى اووے خما هم دغه حال وو تردے پورے چه ما واوريدل د رسول الله ﷺ نه چه اوئے فرمائيل. ښۀ خوب د الله تعالى د طرفنه

[1] ددے دپاره چه ښۀ ښكلے تعبير دركړى دشمن ته به بيانولو كښې دا آفت دے چه هغه به خراب تعبير دركړى او احتمال دے چه هم دغسے واقع شى يا بے كاره تكليف شى

الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللهِ فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يُحِبُّ فَلَا يُحَدِّثْ بِهَا إِلَّا مَنْ يُحِبُّ وَإِنْ رَأَى مَا يَكْرَهُ فَلْيَتْفُلْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثًا وَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشَرِّهَا وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا أَحَدًا فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ

دے. پس هر کله چه ستاسو نه څوك ښۀ خوب اووينی نو نۀ دِ بيانوی مګر خپل دوست ته او هر کله چه بد خوب اووينی. نو ګس طرفته دِ درے خله لاړے توکړی او د شيطان د شر نه دِ په الله باندے پناه اوغواړی او هيڅا ته دِ نۀ بيانوی نو نقصان به ئے نۀ کيږی.

عَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ قَالَ إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الرُّؤْيَا يَكْرَهُهَا فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثًا وَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ ثَلَاثًا وَلْيَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ

د جابرؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. هر کله چه څوك ستاسو نه داسے خوب اووينی چه هغه بد ګڼری نو ګس طرفته دِ درے خله لاړے توکړی، او په الله سره دِ پناه اوغواړی د شيطان نه او په کومه دډه چه ملاست وی هغه دِ بدله کړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ لَمْ تَكَدْ رُؤْيَا الْمُسْلِمِ تَكْذِبُ وَأَصْدَقُكُمْ رُؤْيَا أَصْدَقُكُمْ حَدِيثًا وَرُؤْيَا الْمُسْلِمِ جُزْءٌ مِنْ خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ وَالرُّؤْيَا ثَلَاثَةٌ فَرُؤْيَا الصَّالِحَةِ بُشْرَى مِنَ اللهِ وَرُؤْيَا تَحْزِينٌ مِنَ الشَّيْطَانِ وَرُؤْيَا مِمَّا يُحَدِّثُ الْمَرْءُ نَفْسَهُ فَإِنْ رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يَكْرَهُ فَلْيَقُمْ فَلْيُصَلِّ وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا النَّاسَ قَالَ وَأُحِبُّ الْقَيْدَ وَأَكْرَهُ الْغُلَّ وَالْقَيْدُ ثَبَاتٌ فِي الدِّينِ فَلَا أَدْرِي هُوَ فِي الْحَدِيثِ أَمْ قَالَهُ ابْنُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. هر کله چه زمانه يو شان شی (يعنی ورځ شپه برابر شی يا هر کله چه قيامت رانزدے شی) نو د مسلمان خوب به دروغ نۀ وی. او ستاسو نه به د تولو نه زيات رښتونے خوب د هغه چا وی چه هغه د ټولو نه زيات رښتونے وی په خبرو کښ. او د مسلمان خوب د نبوت په پنځۀ څلويښت حصو کښ يوه حصه ده او خوب په درے قسمه دے يو خو نيك خوب چه د الله د طرفنه خوشخبری ده. دويم د رنځ خوب چه د شيطان د طرفنه دے. دريم هغه خوب چه د خپل زړۀ خيال وی پس هر کله چه څوك ستاسو نه بد خوب اووينی نو پادِ څی او مونځ دِ اوکړی. او خلقو ته دِ ئے نۀ بيانوی. او زۀ په خوب کښ هتکړئ لګيدلے ښۀ ګڼړم او په غاړه کښ طوق بد ګڼړم. ايوب وئيلی دی زۀ نۀ يم خبر چه دا کلام په حديث کښ داخل دے يا د ابن سيرين کلام

سِيرِينَ

دے[1]

عَنْ أَيُّوبَ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَيُعْجِبُنِي الْقَيْدُ وَأَكْرَهُ الْغُلَّ وَالْقَيْدُ ثَبَاتٌ فِي الدِّينِ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ

ایوب په دغه اسناد سره روایت کړے دے او ایوب وئیلی دی چه ابوهریرهؓ وئیلی دی ما ته بیړئ لیدل غوره دی او طوق مکروه ګڼړم او د بیړئ تعبیر په دین کښې مضبوط کیدل دی او رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د مؤمن خوب د نبوت د شلویښتو حصو نه یوه حصه ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ إِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابوهریرهؓ وئیلی دی هر کله زمانه نږدے شی (مخکښې ئے پوره حدیث بیان کړو. مګر په دے کښې د نبی ﷺ ذکر نه دے کړے. (یعنی ابوهریرهؓ دے حدیث لره په خپل خان باندے موقوف کړو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَدْرَجَ فِي الْحَدِيثِ قَوْلَهُ وَأَكْرَهُ الْغُلَّ إِلَى تَمَامِ الْكَلَامِ وَلَمْ يَذْكُرِ الرُّؤْيَا جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی (څنګه چه پورته تیر شو) او ابوهریرهؓ خپله دا خبره په حدیث کښې شامل کړه چه زهٔ طوق په مرئ کښې لیدل نهٔ غوره کوم. او دا ئے ذکر نه کړو چه خوب د نبوت شپږ څلویښتمه حصه ده.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ

د عباده بن صامتؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د مؤمن خوب د نبوت د شلویښتو حصو نه

[1] امام نوویؒ وئیلی دی په څنو روایتونو کښې د پنځهٔ څلویښتمے حصے ذکر دے په څنو کښې د اویائمے حصے ذکر دے په څنو کښې د شپږ څلویښتمے حصے ذکر دے. او په څنو کښې د څلویښتمے په څنو کښې د یو کم پنځوستمے په څنو کښې د پنځوستمے په څنو کښې د شپږویشتمے په څنو کښې د څلور څلویښتمے. او کیدے شی دا اختلاف د خوب د لیدلو والا په حالت باندے دے. کچرے هغه مؤمن دی نو د هغهٔ خوب د نبوت د څلویښتو حصو نه یوه حصه ده او د فاسق د اویاؤ حصو نه یوه حصه ده. او څنو وئیلی دی مشکل خوب په اویاوو حصو کښې یوه حصه ده. او صفا په څلویښتو حصو کښې یوه حصه ده. خطابی وئیلی دی په رسول الله ﷺ باندے د دیرشو کالو پورے وحی راغلے وه. او د نبوت نه مخکښې د شپږو میاشتو پورې به په خوب کښې وحی راتله نو خوب د څلویښتو حصو نه یوه حصه شوه او د هتکړو په خوب کښې لیدل ځکه غوره دی چه د دے تعبیر د ګناهونو نه بچ کیدل او د شرع پابند اوسیدل دی او طوق د جهنمیانو صفت دے انتهی مختصراً

وأربعين جزءا من النبوة

يوه حصه ده.

عن أنس بن مالك عن النبي صلى الله عليه وسلم مثل ذلك

انس بن مالك د رسول الله ﷺ نه د پورتني حديث پشان روايت كوي

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم رؤيا المؤمن جزء من ستة وأربعين جزءا من النبوة

ابوهريره د نبي ﷺ نه حديث روايت كړے دے چه حضرت ﷺ فرمائيلي دي د مؤمن خوب د نبوت په شپږ څلويښتو حصو كښې يوه حصه ده

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم رؤيا المسلم يراها أو ترى له وفي حديث ابن مسهر الرؤيا الصالحة جزء من ستة وأربعين جزءا من النبوة

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د مسلمن خوب كه هغه پخپله اووينى يا كه بل څوك ئے د هغه د پاره اووينى د ابن مسهر په روايت كښې نيك خوب دے يوه حصه د نبوت د څلويښتو حصو نه ده

عن أبي هريرة عن رسول الله ﷺ قال رؤيا الرجل الصالح جزء من ستة وأربعين جزءا من النبوة

د ابوهريره نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د نيك سړي خوب د نبوت د څلويښتو حصو نه يوه حصه ده

عن يحيى بن أبي كثير بهذا الإسناد

د يحيى بن ابي كثير نه په دغه اسناد سره روايت دے

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم بمثل حديث عبد الله بن يحيى بن أبي كثير عن أبيه

د ابوهريره نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه د نيك خوب د نبوت د اوياؤ نه يوه حصه ده

عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ الرؤيا الصالحة جزء من سبعين جزءا من النبوة

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي نيك خوب د نبوت د اوياؤ حصو نه يوه حصه ده •

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من رآني في المنام فقد

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه څوك په خوب كښې لوليدم يقيناً هغه زه لوليدم ځكه چه شيطان

رَآنِيَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ بِي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَسَيَرَانِي فِي الْيَقَظَةِ أَوْ لَكَأَنَّمَا رَآنِي فِي الْيَقَظَةِ لَا يَتَمَثَّلُ الشَّيْطَانُ بِي وقَالَ فَقَالَ أَبُو سَلَمَةَ قَالَ أَبُو قَتَادَةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَنْ رَآنِي فَقَدْ رَأَى الْحَقَّ

عَنِ ابْنِ أَخِي الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنَا عَمِّي فَذَكَرَ الْحَدِيثَيْنِ جَمِيعًا بِإِسْنَادَيْهِمَا سَوَاءً مِثْلَ حَدِيثِ يُونُسَ

عَنْ جَابِرٍؓ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ رَآنِي فِي النَّوْمِ فَقَدْ رَآنِي إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِلشَّيْطَانِ أَنْ يَتَمَثَّلَ فِي صُورَتِي وَقَالَ إِذَا حَلَمَ أَحَدُكُمْ فَلَا يُخْبِرْ أَحَدًا

خما صورت نۀ شي جوړولے[1].

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. څوك چه ما په خوب کښې اووينى هغه به ډير زر ما په ويخه اووينى يا چا چه زۀ په خوب کښې اوليدم هغۀ لکه چه زۀ په ويخه اوليدم. شيطان خما صورت نۀ شي جوړولے. ابوسلمهؓ وائى چه ابوقتادهؓ اووے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چا چه زۀ اوليدم هغۀ په رښتيا سره اوليدم[2].

د زهرى د ورارۀ نه روايت دے هغۀ اووے ما ته حديث بيان کړےدے. بيا هغۀ د يونس د حديث پشان دواړه حديثونه د اسنادونو سره ذکر کړل.

د جابرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چا چه زۀ په خوب کښې اوليدم هغۀ بيشکه زۀ اوليدم ځکه چه شيطان خما په صورت کښې نۀ شي جوړيدے. او هر کله چه ستاسو نه څوك بد خوب اووينى نو چا ته دې نۀ بيانوى شيطان په خوب کښې د هغۀ

---

[1] ابن باقلانى وئيلي دي مطلب دادے چه د هغۀ خوب صحيح دےلغوه خيال نۀ دے. نۀ د شيطان د اغوا نۀ دے. او کله کله خوب ليدلو والاحضرت ﷺ لره د هغوى د حُليے نه علاوه په بل شکل باندے وينى. لکه د حضرت ﷺ ږيره مبارکه سپينه اووينى او کله کله دوه سړى حضرت ﷺ لره په يو وخت په دوو جدا جدا مکانونو کښې اووينى. مازرى وئيلي دي دا حديث په خپل ظاهر باندے محمول دے او هيڅ يو دليل په دے باندے نشته دے چه د حضرت ﷺ جسم مبارك فنا شوے دے بلکه د احاديثو نه د هغوى بقا وتلے ده. قاضى عياضؒ وئيلي دي دا حديث محمول دے په هغه حالت باندے هر کله چه حضرت ﷺ لره د هغوى د حليے مطابق اووينى. او دا قول ضعيف دے او صحيح داده چه په هر صورت کښې هغه خوب صحيح دے. او د شيطان دا مجال نشته چه د حضرت ﷺ په صورت باندے خان جوړ کړى. ځکه چه کچرے دا طاقت نې دے نو شيطان به د هغوى صورت جوړه وو. او دروغ او دهوکه به ئې کوله او په حق او باطل کښې به ئې شك پيدا کوو. قاضى عياض وئيلي دي چه الله تعالى لره هم په خوب کښې ليدلے کيدے شى.

[2] ددے نه مراد هغه خلق دي چه د حضرت ﷺ په زمانه کښې وو. يعنى چا چه هجرت نۀ دے کړے او په بل ملك کښې ما په خوب کښې اووينى هغه به په هجرت سره مشرف وى او خما سره به ميلاو شى. يا مراد دادےچه په آخرت کښې به ما اووينى. او خپل خوب د رښتونے اوګنړى ځکه چه په آخرت کښې به حضرت ﷺ ته تول مسلمان کتلے شى. يا مراد دادے چه په آخرت کښې به د يو خاص قرب سره چه هغه به نورو ته نۀ وى ما اووينى

يَتَلَعَّبُ الشَّيْطَانُ بِهِ فِي الْمَنَامِ

سره لوبے کوی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَآنِي فِي النَّوْمِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِلشَّيْطَانِ أَنْ يَتَشَبَّهَ بِي

د جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چا چه زۀ په خوب کښې اولیدم هغۀ بیشکه زۀ اولیدم. خکه چه شیطان خما صورت نۀ شی جوړولے.

عَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لِأَعْرَابِيٍّ جَاءَهُ فَقَالَ إِنِّي حَلَمْتُ أَنَّ رَأْسِي قُطِعَ فَأَنَا أَتَّبِعُهُ فَزَجَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ لَا تُخْبِرْ بِتَلَعُّبِ الشَّيْطَانِ بِكَ فِي الْمَنَامِ

د جابرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ له یو بانډیچے راغے او اونے وئیل ما په خوب کښې اولیدل چه خما سر کټ شوے دے او زۀ په هغے پسے روستو روان یم. حضرت ﷺ هغۀ لره اورټلو او ورته ئے اوفرمائیل مۀ خبره وه هیچا لره چه ستا سره شیطان لوبے کوی په خوب کښې[1].

عَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ رَأْسِي ضُرِبَ فَتَدَحْرَجَ فَاشْتَدَدْتُ عَلَى أَثَرِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ لِلْأَعْرَابِيِّ لَا تُحَدِّثِ النَّاسَ بِتَلَعُّبِ الشَّيْطَانِ بِكَ فِي مَنَامِكَ وَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدُ يَخْطُبُ فَقَالَ لَا يُحَدِّثَنَّ أَحَدُكُمْ بِتَلَعُّبِ الشَّيْطَانِ بِهِ فِي مَنَامِهِ

د جابرؓ نه روایت دے چه یو بانډیچے د رسول الله ﷺ خواله راغے او اونے وئیل یا رسول اللهؐ! ما په خوب کښې اولیدل چه خما سر کټ کړے شو او هغه غورځیدلے روان دے. او زۀ پسے روستو منډے وهم. حضرت ﷺ اوفرمائیل. مۀ بیانوه خلقو ته چه شیطان ستا سره لوبے کوی په خوب کښې. جابرؓ وائی ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. او ددے نه پس حضرت ﷺ په خطبه کښې اوفرمائیل. څوک د ستاسو نه نۀ بیانوی هغه چه شیطان د هغۀ سره لوبے کوی په خوب کښې.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

د جابرؓ نه روایت دے چه یو سړے د رسول الله ﷺ خواله

[1] نووی وائی حضرت ﷺ ته به په وحی سره یا بل څۀ قرینه سره معلومه شوے وه چه دا خوب لغوه او بے هوده دے ورنه تعبیر د سر کټ کیدو داسے ویسلے شی چه ددۀ په دولت یا حکومت کښې به خلل راشی البته کچرے غلام داسے خوب اووینی نو آزاد به شی کۀ بیمار ئے اووینی نو صحبت مند به شی کۀ قرضدار ئے اووینی نو قرض به ئے ادا شی او چا چه حج نۀ وی کړے او داسے خوب اووینی هغه به حج اوکړی کۀ غمژن ئے اووینی نو خوشحاله به شی او کۀ یریدلے ئے اووینی نو بے خوفه یعنی بے یرے به شی والله اعلم بالصواب

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ رَأْسِي قُطِعَ قَالَ فَضَحِكَ النَّبِيُّ ﷺ وَقَالَ إِذَا لَعِبَ الشَّيْطَانُ بِأَحَدِكُمْ فِي مَنَامِهِ فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ النَّاسَ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ إِذَا لُعِبَ بِأَحَدِكُمْ وَلَمْ يَذْكُرِ الشَّيْطَانَ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَرَى اللَّيْلَةَ فِي الْمَنَامِ ظُلَّةً تَنْطِفُ السَّمْنَ وَالْعَسَلَ فَأَرَى النَّاسَ يَتَكَفَّفُونَ مِنْهَا بِأَيْدِيهِمْ فَالْمُسْتَكْثِرُ وَالْمُسْتَقِلُّ وَأَرَى سَبَبًا وَاصِلًا مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ فَأَرَاكَ أَخَذْتَ بِهِ فَعَلَوْتَ ثُمَّ أَخَذَ بِهِ رَجُلٌ مِنْ بَعْدِكَ فَعَلَا ثُمَّ أَخَذَ بِهِ رَجُلٌ آخَرُ فَعَلَا ثُمَّ أَخَذَ بِهِ رَجُلٌ آخَرُ فَانْقَطَعَ بِهِ ثُمَّ وُصِلَ لَهُ فَعَلَا قَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ بِأَبِي أَنْتَ وَاللهِ لَتَدَعَنِّي فَلَأَعْبُرَنَّهَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْبُرْهَا قَالَ أَبُو بَكْرٍ أَمَّا الظُّلَّةُ فَظُلَّةُ الْإِسْلَامِ وَأَمَّا الَّذِي يَنْطِفُ مِنَ السَّمْنِ وَالْعَسَلِ فَالْقُرْآنُ حَلَاوَتُهُ وَلِينُهُ وَأَمَّا مَا يَتَكَفَّفُ النَّاسُ مِنْ ذَلِكَ فَالْمُسْتَكْثِرُ مِنَ الْقُرْآنِ وَالْمُسْتَقِلُّ وَأَمَّا السَّبَبُ الْوَاصِلُ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ

راغے او اونے وئیل یا رسول الله ﷺ! ما په خوب کښې اولیدل لکه چه خما سر کټ شوے دے. ددے په اوریدو حضرت ﷺ مسکے شو او اونے فرمائیل .هر کله چه په تاسو کښې د چا سره شیطان په خوب کښې لوبے کوی نو هیچا ته د نے ذکر نه کوی.

د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روایت دے چه یو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے. او اونے وئیل یا رسول الله ﷺ! ما د شپې په خوب کښې اولیدل چه د وریځے د یوے ټکړے نه غوړی او ګبین راڅاڅی. خلق هغے له په خپلو خپلو لپو سره اخلی څوك زیات اخلی او څوك کم او ما اولیدل چه د اسمان نه د زمکے پورے یوه رسۍ زوړنده شوے ده. تاسو هغے له اونیوه او پورته اوختلئ. بیا ستاسو نه پس یو بل سړی هغه اونیوه او هغه هم پورته اوختو. بیا یو بل سړی اونیوه هغه هم اوختو. بیا یو بل سړی اونیوه نو هغه اوشلیده بیا هغه غوټه شوله او هغه هم پورته لاړو. ددے په اوریدو حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ خما پلار دستا نه قربان شی ما ته ددے د تعبیر اجازت راکړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده وایه ابوبکر رضي الله عنه اووے هغه د وریځے ټکړه خو اسلام دے. او د غوړو او ګبین نه د قران حلاوت او نرمی مراد ده او خلق چه کوم زیات او کم اخلی هغه هم خنو ته ډیر قران یاد دے او خنو ته کم. او رسۍ چه کومه د اسمان نه د زمکے پورے زوړنده ده هغه دین برحق دے چه په هغے باندے تاسو یئ. بیا به الله تعالی په دے دین باندے تاسو اوغواړی

فَالْحَقُّ الَّذِي أَنْتَ عَلَيْهِ تَأْخُذُ بِهِ فَيُعْلِيكَ اللهُ بِهِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِهِ رَجُلٌ مِنْ بَعْدِكَ فَيَعْلُو بِهِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِهِ رَجُلٌ آخَرُ فَيَعْلُو بِهِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِهِ رَجُلٌ آخَرُ فَيَنْقَطِعُ بِهِ ثُمَّ يُوصَلُ لَهُ فَيَعْلُو بِهِ فَأَخْبِرْنِي يَا رَسُولَ اللهِ بِأَبِي أَنْتَ أَصَبْتُ أَمْ أَخْطَأْتُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَبْتَ بَعْضًا وَأَخْطَأْتَ بَعْضًا قَالَ فَوَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ لَتُحَدِّثَنِّي مَا الَّذِي أَخْطَأْتُ قَالَ لَا تُقْسِمْ

ستاسو نه پس به یو بل سړے هغې لره اونیسی (ستاسو خلیفه) هغه به هم دغه شان اوخیژی. بیا به ئې یو بل سړے اونیسی او د هغۀ به هم دغه حال شی. بیا به ئې یو بل سړے اونیسی نو څۀ خلل به پکښ راشی. لیکن هغه خلل به آخر ختم شی او هغه به هم اوخیژی او ما ته بیان کړه یا رسول الله ﷺ! چه ما دا تعبیر ټهیک اووے یا غلط حضرت ﷺ اوفرمائیل څۀ تا ټهیک اووے او څۀ غلط اووے. نو ابوبکر عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ په الله قسم دے تاسو بیان کړئ چه ما څۀ غلطی بیان کړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل غلطی مۀ کوه قسم مۀ خوره[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ النَّبِيَّ ﷺ مُنْصَرَفَهُ مِنْ أُحُدٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي رَأَيْتُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ فِي الْمَنَامِ ظُلَّةً تَنْطِفُ السَّمْنَ وَالْعَسَلَ بِمَعْنَى حَدِيثِ يُونُسَ

د ابن عباس نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ خواله یو سړے راغے هر کله چه هغوی د اُحد نه واپس شو او عرض ئې اوکړو یا رسول الله ﷺ ما نن شپه په خوب کښ د دوریځے یوه ټکړه اولیده چه د هغے نه غوړی او ګبین څڅیدلو د آخره پورے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَوْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ كَانَ مَعْمَرٌ أَحْيَانًا يَقُولُ عَنِ ابْنِ

د ابن عباس یا ابوهریره نه روایت دے. عبد الرزاق (راوی) وئیلی دی چه معمر (راوی) کله خو د ابن عباس نه روایت کولو او کله د

[1] او غلطی ئې بیان نۀ کړه خکه چه د الله تعالی حکم به نۀ وو شوے علماؤ وئیلی دی چه ابوبکر په تعبیر کښ غلطی نۀ ده بیان کړے بلکه د هغوی غلطی دغه وه چه جلتی ئې اوکړه او رسول الله ﷺ ته ئې تعبیر وئیل ورنه کړل کچرے حضرت ﷺ فرمائیلے وے نو ډیره به ښۀ وه او دا قول صحیح دے خکه چه ابوبکر نه پخپله حضرت ﷺ اجازت ورکړو په دے صورت کښ به د تعبیر غلطی دا وی چه غوړو او ګبین نه هغوی د قرآن حلاوت او نرمی مراد اووے حالانکه د شهد نه مراد قرآن دے او د غوړو نه مراد حدیث یا به دا وی چه د دریم سړی په خلافت کښ هغوی بیان اوکړو چه دغه خلل به راشی او بیا به ختم شی. دا دے نه معلومیږی چه هغه سړے به دغه خلل لره لرے کوی حالانکه داسے اونۀ شوه بلکه حضرت عثمان جبراً د خلافت نه کوز کړے شو او قتل شو بیا حضرت علی هغے لره سنبال کړو او ابوبکر قسم اوخوړو لیکن حضرت ﷺ هغے لره پوره نۀ کړو دا دے نه معلومه شوه چه قسم پوره کول هغه وخت ضروری دی هر کله چه په هغے کښ څۀ مفسد نۀ وی او د هغے په بیانولو کښ څۀ مفسد نۀ وی. هغه دا چه د حضرت عثمان د قتل او فساد خبر د مخکښ نه ورکول نامناسب و (نووی مختصراً).

عَبَّاسٍ وَأَحْيَانًا يَقُولُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي أَرَى اللَّيْلَةَ ظُلَّةً بِمَعْنَى حَدِيثِهِمْ

ابوهريرة نه چه يو سړی راغے د رسول الله ﷺ خواله او اوئے وئيل چه نن شپه ما اوليدهٔ. (الحديث)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مِمَّا يَقُولُ لِأَصْحَابِهِ مَنْ رَأَى مِنْكُمْ رُؤْيَا فَلْيَقُصَّهَا أَعْبُرْهَا لَهُ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ رَأَيْتُ ظُلَّةً بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

د عبد الله بن عباس نه روايت دے رسول الله ﷺ خپلو صحابو ته اوفرمائيل. چا چه ستاسو نه څۀ خوب ليدلے وی هغه دِ بيان کړی چه زۀ تعبير اوباسم. يو سړے راغے او اوئے وئيل يا رسول الله! ما د وريځے يوه ټکړه اوليده بيائے بيان کړو حديث په داسے شان لکه چه پورته تير شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِيمَا يَرَى النَّائِمُ كَأَنَّا فِي دَارِ عُقْبَةَ بْنِ رَافِعٍ فَأُتِينَا بِرُطَبٍ مِنْ رُطَبِ ابْنِ طَابٍ فَأَوَّلْتُ الرِّفْعَةَ لَنَا فِي الدُّنْيَا وَالْعَاقِبَةَ فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ دِينَنَا قَدْ طَابَ

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. ما يوے شپے لره اوليده په داسے حالت کښې په کوم کښې چه اوده سړے وينی. لکه مونږ د عقبه بن رافع په کور کښې يو نو زمونږ مخے ته شنے چوارے راوړے شوے. د هغه قسم د کور قِسم چه ابن طاب نوم دے. ما د هغې دا تعبير اوستو چه زمونږ درجه به په دنيا کښې اوچته شی او په آخرت کښې به مو انجام نيك وی او البته زمونږ دين غوره او خوند ناك دے[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرَانِي فِي الْمَنَامِ أَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ فَجَذَبَنِي رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الْأَصْغَرَ مِنْهُمَا فَقِيلَ لِي كَبِّرْ فَدَفَعْتُهُ إِلَى الْأَكْبَرِ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. ما ته په خوب کښې داسے معلومه شوه چه مسواك کوم. په دغه وخت دوو سړو زۀ راښکودم (يعنی هر يو مسواك غوښتو) يو په هغوی کښې مشر وو نو ما هغه کشر له مسواك ورکړو ما ته اووئيلے شو دے مشر له ئے ورکړه ما هغه مشر له ورکړو.

[1] حضرت ﷺ دا تعبير په لفظونو سره اوويستلو اوچت والے يعنی رفعت د رافع نه او د عاقبت بهتری د عقبه نه او ښائسته والے د طاب نه معلوم شوے دے چه د تعبير دغه يوه طريقه ده چه صرف د لفظونو نه په طور د فال مطلب واخلی.

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أُهَاجِرُ مِنْ مَكَّةَ إِلَى أَرْضٍ بِهَا نَخْلٌ فَذَهَبَ وَهَلِي إِلَى أَنَّهَا الْيَمَامَةُ أَوْ هَجَرُ فَإِذَا هِيَ الْمَدِينَةُ يَثْرِبُ وَرَأَيْتُ فِي رُؤْيَايَ هَذِهِ أَنِّي هَزَزْتُ سَيْفًا فَانْقَطَعَ صَدْرُهُ فَإِذَا هُوَ مَا أُصِيبَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ أُحُدٍ ثُمَّ هَزَزْتُهُ أُخْرَى فَعَادَ أَحْسَنَ مَا كَانَ فَإِذَا هُوَ مَا جَاءَ اللهُ بِهِ مِنَ الْفَتْحِ وَاجْتِمَاعِ الْمُؤْمِنِينَ وَرَأَيْتُ فِيهَا أَيْضًا بَقَرًا وَاللهُ خَيْرٌ فَإِذَا هُمُ النَّفَرُ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ أُحُدٍ وَإِذَا الْخَيْرُ مَا جَاءَ اللهُ بِهِ مِنَ الْخَيْرِ بَعْدُ وَثَوَابُ الصِّدْقِ الَّذِي آتَانَا اللهُ بَعْدَ يَوْمِ بَدْرٍ

د ابوموسیٰ نه روایت دے چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی ما په خوب کښ اولیدل چه زهٔ هجرت کوم زمکے په طرف چه کوم ځائے د کهجورو اونے دی نو خما ګمان د یمامه او هجر په طرف لاړو لیکن هغه مدینه اوخته د کومے نوم چه یثرب هم دے. او ما په خپل دغه خوب کښ اولیدل چه ما توره اوخوزوله نو هغه د پورته نه ما ته شوه نو د هغے تعبیر د مسلمانانو شهادت اوختو د اُحد په ورځ بیا ما توره په دویم خل اوخوزوله نو هم دغسے ثابته شوه د مخکښ نه بنه د هغے تعبیر دا اوختو چه الله تعالی فتح نصیب کړه او د مسلمانانو جماعت قائم شو. (یعنی د جنګ اُحد نه پس خیبر او مکه فتح شوه او د اسلام لښکر زور اونیوو) او ما په دغه خوب کښ غواګانے اولیدے (چه حلالولے شوے) او الله تعالی غوره دے (یعنی دا جمله مے د چاد ژبے نه واوریده الله خیر) هغه خلق وو د مسلمانانو چه د اُحد په ورځ په کار راغلو او د خیر نه مراد هغه وو کوم چه الله تعالی راواولیږل دد ے نه پس نور ثواب د صدق چه الله تعالی په مونږ بانده پیرزو اوکړه روستو د بدر په ورځ بانده ے[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ مُسَيْلِمَةُ الْكَذَّابُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَجَعَلَ يَقُولُ إِنْ جَعَلَ لِي

د عبد الله بن عباس نه روایت دے وائی چه مسیلمه کذاب (چه د نبوت په دروغه دعوه کړے وه او د دغے وجے نه د هغهٔ لقب کذاب شو) او د رسول الله ﷺ د وفات نه پس سره د خپلو تابعینو اووژلے شو) د

[1] یمامه او هجر په عربو کښ دوه ملکونه دی هلته د کهجورو اونے دیرے دی. د حدیث نه معلومه شوه چه د پیغمبرانو خوبونه رښتیا وی لیکن په تعبیر کښ کله کله سهو راځی د هجرت مقام خو په اصل حقیقت کښ مدینه وه لیکن د حضرت ﷺ خیال بل طرفته لاړو ... د اولیاء الله هم خوب او کشف رښتیا وی لیکن د هغے په مطلب او تعین کښ غلطی راځی خو د اولیاء الله خوب یا کشف دلیل شرعی نهٔ دے او نه په هغے بانده ے عمل کول ضروری دی بلکه عمل په کتاب او سنت بانده ے لازم دے

مُحَمَّدٌ الْأَمْرَ مِنْ بَعْدِهِ تَبِعْتُهُ فَقَدِمَهَا فِي بَشَرٍ كَثِيرٍ مِنْ قَوْمِهِ فَأَقْبَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ وَفِي يَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِطْعَةُ جَرِيدَةٍ حَتَّى وَقَفَ عَلَى مُسَيْلِمَةَ فِي أَصْحَابِهِ قَالَ لَوْ سَأَلْتَنِي هَذِهِ الْقِطْعَةَ مَا أَعْطَيْتُكَهَا وَلَنْ أَتَعَدَّى أَمْرَ اللهِ فِيكَ وَلَئِنْ أَدْبَرْتَ لَيَعْقِرَنَّكَ اللهُ وَإِنِّي لَأُرَاكَ الَّذِي أُرِيتُ فِيكَ مَا أُرِيتُ وَهَذَا ثَابِتٌ يُجِيبُكَ عَنِّي ثُمَّ انْصَرَفَ عَنْهُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَسَأَلْتُ عَنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ أُرَى الَّذِي أُرِيتُ فِيكَ مَا أُرِيتُ فَأَخْبَرَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ فِي يَدَيَّ سِوَارَيْنِ مِنْ ذَهَبٍ فَأَهَمَّنِي شَأْنُهُمَا فَأُوحِيَ إِلَيَّ فِي الْمَنَامِ أَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَطَارَا فَأَوَّلْتُهُمَا كَذَّابَيْنِ يَخْرُجَانِ مِنْ بَعْدِي فَكَانَ أَحَدُهُمَا الْعَنْسِيَّ صَاحِبَ صَنْعَاءَ وَالْآخَرُ مُسَيْلِمَةَ صَاحِبَ الْيَمَامَةِ

رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې مدينې منورې ته راغې. او اوئې وئيل کچرې محمد د خپل خان نه په پس خپل خلافت ما ته راکوی نو زۀ ددۀ تابعداری کوم مسیلمه د خپل خان سره د خپل قوم ډير خلق راوستے وو. رسول الله ﷺ د هغۀ خواله تشریف راوړو. او د حضرت ﷺ سره ثابت بن قیس بن شماس وو. او د حضرت ﷺ په لاس مبارک کښې د لرګی یوه ټکړه وه حضرت د مسیلمه کذاب د خلقو په خواه کښې اودریدو او اوئې فرمائیل. اے مسیلمه کچرے تۀ خما نه دا د لرګی ټکړه اوغواړے نو تاله ئې نۀ درکوم او زۀ د الله د حکم نه خلاف ستا په باب کښې کولو والا نۀ یم او کچرے تۀ خما وینا او نۀ منې نو الله تعالی به تا له قتل کړی (دا فرمائیل د حضرت ﷺ صحیح شو) او یقینًا زۀ تا له هغه ګنړم کوم چه ما ته په خوب کښې ښودلے شوے دے. او دا ثابت به تا له خما د طرفه جواب درکړی بیا حضرت ﷺ د هغه ځائے نه لاړو. ابن عباس وائی ما د خلقو نه تپوس اوکړو چه دا حضرت ﷺ څۀ اوفرمائیل. تۀ هغه ئې چه په خوب کښې ما ته ښودلے شوے وے. ابوهریره ما ته بیان اوکړو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ اودۀ وم ما په خپل لاس کښې د سروزرو دوه کړے اولیدے هغه ما ته بدے معلومې شوے په خوب کښې ما ته حکم اوشو دے لره پوکے ورکړه هغه دواړه والوتلے. ما د هغې تعبير دا اووے. چه هغه دواړه دروغجن دی. چه خما نه پس به را اوځی یو په هغوی کښې عنسی صنعا والا او دویم یمامه والا [1].

[1] صنعاء په یمن کښې یو ښار دے هلته د حضرت ﷺ په وخت مبارک کښې یو سړے پیدا شوے وو یعنی ابوالاسود عنسی چه د پیغمبرئ دعوه ئې کړے وه او د حضرت ﷺ د پیغمبرئ نه منکر نه وو. پس د رسول الله ﷺ په مخکښې د فیروز دیلمی په لاس اووژلے شو

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ خَزَائِنَ الْأَرْضِ فَوُضِعَ فِي يَدَيَّ أُسْوَارَيْنِ مِنْ ذَهَبٍ فَكَبُرَا عَلَيَّ وَأَهَمَّانِي فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَذَهَبَا فَأَوَّلْتُهُمَا الْكَذَّابَيْنِ اللَّذَيْنِ أَنَا بَيْنَهُمَا صَاحِبَ صَنْعَاءَ وَصَاحِبَ الْيَمَامَةِ

د همام نه منبه نه روایت دے چه دا خبررا کړے دی مونږ ته حضرت ابوهریرهؓ چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی زهٔ اودهٔ وم چه ماله د زمکے خزانے راوړلے شوے. او خما په لاس کښ د سروزرو دوه کړے واچولے شوے. هغه درانے اولګیدلے په ما باندے او پریشانه شوم. پس الله تعالی ما ته حکم اوکړو هغے ته د پوکی ورکولو. ما هغے له پوکے ورکړو هغه دواړه لاړے. د هغے تعبیر ما دا اوګڼړو دا دواړه دروغژن د چا په مینځ کښ چه زهٔ یمه. یو د صنعاء اوسیدونکے دے او بل د یمامه اوسیدونکے دے.

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الصُّبْحَ أَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ فَقَالَ هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمُ الْبَارِحَةَ رُؤْيَا

د سمره بن جندبؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ چه به هر کله د سحر مونځ اوکړو نو د خلقو په طرف به متوجه شو او اوبه ئے فرمائیل پتاسو کښ چا بیګا شپه څهٔ خوب لیدلے دے.

او یمامه په عربو کښ یو ملك دے هلته مسیلمه کذاب د حضرتﷺ د شراکت دعوه کړے وه او د حضرتﷺ د دعوت نه هم منکر نه وو لیکن هغه د حضرت ابوبکر صدیقؓ په خلافت کښ د وحشی په لاس اووژلے شو حضرتﷺ ته الله تعالی په خوب کښ د اسلام فتح اوښوده. صرف دغه دوه مردود شوی وو پس الله تعالی هغوی لره هم برباد کړل معلومه شوه چه کچرے سړے په لاس کښ کړے اوینی په خوب کښ نو د هغے تعبیر غریبی او خفګان دے. اهل تعبیرو لیکلی دی چه د ښځو کالی کچرے سړے په خوب کښ اچولی اووینی نو بد دی. مګر اوړی د سری په غاړه کښ لیدل دلیل دی د ښکلی خدمت د میلاویدو. او په خپو کچرے یعنی پاتړیبونه سړی لره لیدل د قید کیدو دلیل دے. (تحفة الاخیار)

كِتَابُ الْفَضَائِلِ

د فضیلتونو مسئلې

بَاب فَضْلِ نَسَبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَسْلِيمِ الْحَجَرِ عَلَيْهِ قَبْلَ النُّبُوَّةِ

باب: د رسول الله ﷺ د نسب لوئی والے او د کانړی په حضرت ﷺ باندے سلام کول د پیغمبرئ نه مخکښ

عَنْ وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ إِنَّ اللهَ اصْطَفَى كِنَانَةَ مِنْ وَلَدِ إِسْمَعِيلَ وَاصْطَفَى قُرَيْشًا مِنْ كِنَانَةَ وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ

د واثله بن اسقع نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو دالله جل جلاله د اسماعیل په اولاد کښې کنانه لره غوره کړو او قریش ئے د کنانه نه او بنی هاشم لره ئے د قریشو نه او ما لره ئے د بنی هاشم نه[1]

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ كَانَ يُسَلِّمُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ إِنِّي لَأَعْرِفُهُ الْآنَ

د جابر بن سمرة نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ پیژنم هغه گټے لره کومه چه په مکه کښې ده هغې ماته سلام کړے وو د نبوت نه مخکښې زۀ هغې لره اوس هم پیژنم

بَاب تَفْضِيلِ نَبِيِّنَا ﷺ عَلَى جَمِيعِ الْخَلَائِقِ

باب: زمونږ د نبی ﷺ درجه د ټولو مخلوقاتو نه زیاته ده

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ

دابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ به د قیامت په ورځ د آدم د اولاد سردار یم او د ټولو نه مخکښې به خما قبر چوی او اول به ئے زۀ شافع یم او اول شفاعت به خما قبول وی[2]

---

[1] نووی وائی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه نور عرب د قریشو برابر کیدے نۀ شی دغه شان د هاشمی برابر هغه قریشی نۀ شی کیدے چه هغه هاشمی نۀ دی البته د مطلب اولاد د بنی هاشم برابر دی خکه چه هغه دواړه یو دی لکه څنګه چه په بل حدیث کښې راغلی دی

[2] اګر چه حضرت ﷺ په دنیا کښې هم د ټول اولاد د آدم سردار دے. مګر په دنیا کښې کافر او منافق د حضرت ﷺ د سرداری نه منکر دی په آخرت کښې به څوک هم منکر نۀ وی او سرداری د حضرت ﷺ به په ښه طریقه جاری وی او دا کلمه حضرت ﷺ د فخر په بنا نۀ ده

بَاب فِي مُعْجِزَاتِ النَّبِيِّ ﷺ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا بِمَاءٍ فَأُتِيَ بِقَدَحٍ رَحْرَاحٍ فَجَعَلَ الْقَوْمُ يَتَوَضَّئُونَ فَحَزَرْتُ مَا بَيْنَ السِّتِّينَ إِلَى الثَّمَانِينَ قَالَ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَى الْمَاءِ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَانَتْ صَلَاةُ الْعَصْرِ فَالْتَمَسَ النَّاسُ الْوَضُوءَ فَلَمْ يَجِدُوهُ فَأُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَضُوءٍ فَوَضَعَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي ذَلِكَ الْإِنَاءِ يَدَهُ وَأَمَرَ النَّاسَ أَنْ يَتَوَضَّئُوا مِنْهُ قَالَ فَرَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبُعُ مِنْ تَحْتِ أَصَابِعِهِ فَتَوَضَّأَ النَّاسُ حَتَّى تَوَضَّئُوا مِنْ عِنْدِ آخِرِهِمْ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ بِالزَّوْرَاءِ قَالَ وَالزَّوْرَاءُ بِالْمَدِينَةِ عِنْدَ السُّوقِ وَالْمَسْجِدِ فِيمَا ثَمَّهْ دَعَا بِقَدَحٍ فِيهِ مَاءٌ

باب : د رسول الله ﷺ د معجزو بیان

د انس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوبۀ اوغوښتے نو یو لوښے راوړے شو خور کړے شوے خلقو د هغے نه اودس کول شروع کړل ما چه اندازاه اولګوله نو د شپیتو نه واخله د اتیاؤ پورے سړو به اودس کړے وو. ما اوبۀ لیدے چه د حضرت ﷺ د ګوتو مبارکو نه بهیدلے.

د انس بن مالك ؓ نه روایت دے چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدۀ په داسے حالت کښ چه د مازیګر د مانځۀ وخت راغلے وواو خلقو د اودس اوبۀ کتلے خو اوبۀ نه میلاویدے. بیا لږے شان د اودس اوبۀ د رسول الله ﷺ مخے ته راوړے شوے حضرت ﷺ په هغه لوښی کښ خپل لاس مبارك کیښودو او خلقو ته ئے د هغه لوښی نه د اودس کولو دپاره حکم اوکړو. انس ؓ وائی ما اولیدل چه اوبۀ د حضرت ﷺ د ګوتو مبارکو نه راوتلے. پس تولو خلقو اودس اوکړو تر دے پورے چه آخر والاهم اودس اوکړو.

د انس بن مالك ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ او د هغۀ صحابه ؓ په زوراء کښ وو. او زوراء د مدینے په بازار کښ د جماعت په خوا کښ د یو مقام نوم دے. حضرت ﷺ د اوبو یو لوخے اوغوښتو او خپله منګل ئے په هغے کښ کیښوده. نو د حضرت ﷺ د ګوتو مبارکو نه

فرمانیلے . لکه چه په بل روایت کښ واضح دی بلکه چه حکم الهی سره ولے چه الله تعالی فرمائی أَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ د بل اُمت د تعلیم او اعتقاد دپاره او ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه حضرت ﷺ د تول مخلوقات نه افضل دے ولے چه د اهل سنتو په تر بنیادم: ملائیکو نه هم غوره دی. او په بل حدیث کښ چه کوم راغلی دی چه په پیغمبرانو کښ یو له په بل باندے بزرګی مۀ ورکوئ د هغے جواب دادے چه کیدےشی دا حدیث ددے نه د مخکښ وخت دے او روستو ددے نه معلومیږی چه حضرت ﷺ ته معلومه شوه چه هغوی د تولو نه افضل دی. دویم دا چه هغه په ادب او تواضع باندے محمول ده. دریمه دا چه مراد ددے نه دادے چه په دےشان د یو بزرګی بیان کړی چه د بل توهین ترے نه اووځی. څلورم دا چه د هغۀ غوره والی نه ممانعت دے چه د هغے نه جهګړه او فتنه پیدا کیږی پنځم دا چه په نفس نبوت کښ څۀ تفصیل نشته دے بلکه د نورو خصلتونو په وجه سره دے (نووی)

فَوَضَعَ كَفَّهُ فِيهِ فَجَعَلَ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ فَتَوَضَّأَ جَمِيعُ أَصْحَابِهِ قَالَ قُلْتُ كَمْ كَانُوا يَا أَبَا حَمْزَةَ قَالَ كَانُوا زُهَاءَ الثَّلَاثِ مِائَةِ

اوبه راوتل شروع شو او ټولو صحابؓو اودس اوکړو. قتادهؓ وائی ما انسؓ ته اووے چه اے د حمزه پلاره! دغه وخت به څومره سړی وو انسؓ اووے تقریبًا درے سوه به وو. (شاید دا د بل وخت ذکر دے)

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ بِالزَّوْرَاءِ فَأُتِيَ بِإِنَاءِ مَاءٍ لَا يَغْمُرُ أَصَابِعَهُ أَوْ قَدْرَ مَا يُوَارِي أَصَابِعَهُ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ هِشَامٍ

د انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په زوراء کښې وو. حضرت ﷺ له یو لوښے راوړے شو په هغے کښې دومره اوبه وے چه د حضرت ﷺ ګوتے مبارکے پکښې نه ډوبیدے یا ګوتے مبارکے پکښې نه پټیدے. بیائے بیان کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته تیر شو

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ أُمَّ مَالِكٍ كَانَتْ تُهْدِي لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عُكَّةٍ لَهَا سَمْنًا فَيَأْتِيهَا بَنُوهَا فَيَسْأَلُونَ الْأُدْمَ وَلَيْسَ عِنْدَهُمْ شَيْءٌ فَتَعْمِدُ إِلَى الَّذِي كَانَتْ تُهْدِي فِيهِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَجِدُ فِيهِ سَمْنًا فَمَا زَالَ يُقِيمُ لَهَا أُدْمَ بَيْتِهَا حَتَّى عَصَرَتْهُ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَصَرْتِيهَا قَالَتْ نَعَمْ قَالَ لَوْ تَرَكْتِيهَا مَا زَالَ قَائِمًا

د جابرؓ نه روایت دے چه أم مالكؓ به رسول الله ﷺ له په یوه کُپۍ کښې غوړی لیږلو د تحفے په طور باندے. بیا به د هغے خامن راتلل او د مور نه به ئے سالن او غوښتلو او په نور کور کښې به څۀ نۀ وو نو أم مالك چه به دهغه کُپۍ خواله لاړه په هغے کښې به غوړی وو. په دے شان به همیشه د هغے د کور سالن موجود وو. یو ځل أم مالك (حرص اوکړو او) هغه کُپۍ ئے نچوړ کړه. بیا د رسول الله ﷺ خواله راغله حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے تا هغے لره دغسے پریخودے وے (او د ضرورت موافق دِ ترے رااخستے) نو په هغے کښې به همیشه غوړی وو.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَطْعِمُهُ فَأَطْعَمَهُ شَطْرَ وَسْقِ شَعِيرٍ فَمَا زَالَ الرَّجُلُ يَأْكُلُ مِنْهُ وَامْرَأَتُهُ وَضَيْفُهُمَا حَتَّى كَالَهُ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ لَمْ تَكِلْهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ وَلَقَامَ لَكُمْ

د جابرؓ نه روایت دے چه یو سړے راغے او د رسول الله ﷺ نه ئے غله اوغوښتله حضرت ﷺ هغۀ ته نیم وسق وربشے ورکړے (یو وسق د شپیتۀ ووګو وی) بیا هغه سړی او د هغۀ بی بی او میلمنو به د هغے نه خوراك کولو. تر دے پورے چه هغه سړی هغه وربشو لره ناپ کړے. بیا هغه د رسول الله ﷺ خواله راغے. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل کچرے تا هغے لره ناپ کړے نۀ وے نو همیشه به دِ د هغے نه خوړلے او هغه به هم دغه شان وے. (ځکه چه په ناپ کولو سره د الله اعتماد لاړۀ او بے

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَخْبَرَهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَكَانَ يَجْمَعُ الصَّلَاةَ فَصَلَّى الظُّهرَ وَالْعَصرَ جمِيعًا وَالْمَغرِبَ وَالْعِشَاءَ جَمِيعًا حَتَّى اذَا كَانَ يَوْمًا أَخَّرَ الصَّلَاةَ ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا ثُمَّ دخل ثم خرج بعد ذلك فصَلَّى الْمَغرِب والعِشَاءَ جمِيعًا ثُمَّ قَالَ إِنَّكُمْ سَتَأْتُونَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللهُ عَيْنَ تَبُوكَ وَإِنَّكُمْ لَنْ تَأْتُوهَا حَتَّى يُضْحِيَ النَّهَارُ فَمَنْ جَاءَهَا مِنْكُمْ فَلَا يَمَسَّ مِنْ مَائِهَا شَيْئًا حَتَّى اٰتِيَ فَجِئْنَاهَا وَقَدْ سَبَقَنَا إِلَيْهَا رَجُلَانِ وَالْعَيْنُ مِثْلُ الشِّرَاكِ تَبِضُّ بِشَيْءٍ مِنْ مَاءٍ قَالَ فَسَأَلَهُمَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ مَسَسْتُمَا مِنْ مَائِهَا شَيْئًا قَالَا نَعَمْ فَسَبَّهُمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ لَهُمَا مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُولَ قَالَ ثُمَّ غَرَفُوا بِأَيْدِيهِمْ مِنَ الْعَيْنِ قَلِيلًا قَلِيلًا حَتَّى اجْتَمَعَ فِي شَيْءٍ قَالَ وَغَسَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ ثُمَّ أَعَادَهُ فِيهَا فَجَرَتِ الْعَيْنُ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ أَوْ قَالَ غَزِيرٍ شَكَّ أَبُو عَلِيٍّ أَيُّهُمَا قَالَ حَتَّى اسْتَقَى النَّاسُ

صبري ښکاره شوه. پس برکت چرته پاتې شو.

د معاذ بن جبل ؓ نه روايت دے وائي چه مونږ د رسول الله ﷺ سره اووتلو په هغه کال چه د تبوك غزا اوشوه. نو حضرت ﷺ به په دغه سفر کښې دوه دوه مونځونه په يو ځائے کولو. نو د ماسپخين او د مازيګر مونځ به ئے په يو وخت ادا کوؤ او د ماښام او ماسختن مونځ به ئے په يو ځائے ادا کوؤ. يوه ورځ حضرت ﷺ مونځ ناوخته کړو. بيا راووتو او د ماسپخين او د مازيګر مونځ ئے يو ځائے اوکړو او بيا دننه لاړو بيا راووتو او د ماښام او د ماسختن مونځ ئے د هغے نه پس په يو ځائے اولوستو. دد ے نه پس ئے اوفرمائيل که الله ؓ غواړي تاسو به صبا د تبوك چينے ته اورسئ. او نۀ شئ رسيدے د کومے پورے چه ورځ راختلې نۀ وي او هر څوك چه ستاسو نه د هغه چينے خواله لاړ شي نو د هغے په اوبو کښې د لاس نۀ لګوئ. د کومے پورے چه زۀ راغلے نۀ يم. معاذ ؓ وائي بيا مونږ هغه چينے ته اورسيدو. او زمونږ نه مخکښې هلته دوه سړي رسيدلي وو. او د چينے د اوبو دا حال وو چه د پيزار د تسمے برابر وے. هغه هم په قلاره قلاره بهيدلے. رسول الله ﷺ د هغه دواړو سړو نه تپوس اوکړو تاسو دد ے اوبو له لاس وروړے دے هغوی اووے آو. حضرت ﷺ هغوی ته بد اووے (ځکه چه هغوی د حکم خلاف اوکړو) او څۀ چه الله تعالی ته منظوره وه هغه حضرت ﷺ هغوی ته واورول بيا خلقو په لپو سره لږے لږے اوبۀ په يو لوښي کښې جمع کړے. حضرت ﷺ خپل دواړه لاسونه او مخ مبارکه په هغے کښې اووينځل. بيائے هغه اوبۀ په هغه چينه کښې اوغورځولے هغه چينے بجوش اووهو. بيا خلقو اوبۀ څښل شروع کړو (په بنيادمو او څاروو باندے) دد ے نه پس حضرت ﷺ اوفرمائيل. اے معاذ! کچرے تۀ ژوندے وے نو اوبۀ وينے. دد ے اوبۀ به باغونه سيراب

ثُمَّ قَالَ يُوشِكُ يَا مُعَاذُ إِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ أَنْ تَرَى مَا هَاهُنَا قَدْ مُلِئَ جِنَانًا

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ تَبُوكَ فَأَتَيْنَا وَادِيَ الْقُرَى عَلَى حَدِيقَةٍ لِامْرَأَةٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْرُصُوهَا فَخَرَصْنَاهَا وَخَرَصَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ وَقَالَ أَحْصِيهَا حَتَّى نَرْجِعَ إِلَيْكِ إِنْ شَاءَ اللهُ وَانْطَلَقْنَا حَتَّى قَدِمْنَا تَبُوكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَهُبُّ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَةَ رِيحٌ شَدِيدَةٌ فَلَا يَقُمْ فِيهَا أَحَدٌ مِنْكُمْ فَمَنْ كَانَ لَهُ بَعِيرٌ فَلْيَشُدَّ عِقَالَهُ فَهَبَّتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ فَقَامَ رَجُلٌ فَحَمَلَتْهُ الرِّيحُ حَتَّى أَلْقَتْهُ بِجَبَلَيْ طَيِّئٍ وَجَاءَ رَسُولُ ابْنِ الْعَلْمَاءِ صَاحِبِ أَيْلَةَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكِتَابٍ وَأَهْدَى لَهُ بَغْلَةً بَيْضَاءَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْدَى لَهُ بُرْدًا ثُمَّ أَقْبَلْنَا حَتَّى قَدِمْنَا وَادِيَ الْقُرَى فَسَأَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَرْأَةَ عَنْ حَدِيقَتِهَا كَمْ بَلَغَ ثَمَرُهَا فَقَالَتْ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي مُسْرِعٌ فَمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ

کوی ، دا هم د حضرت ﷺ یوه لویه معجزه وه په دغه لښکر کښې دیرش زره سړی وو. او په یو روایت کښې دی چه اویا زره سړی وو)

د ابوحمید ؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره اووتو هر کله چه د تبوك جنګ وو نو په وادی القرٰی کښې یو باغ ته اورسیدو ، (وادی القرٰی د مدینې نه درے میله لرے د شام په لاره کښې یو مقام دے) چه هغه باغ د یوے ښځې وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل اندازه او لګوئ چه په دے کښې څومره میوه ده. مونږ اندازه اولګوله او د رسول الله ﷺ د اندازے مطابق هغه لس وسق معلومه شوه. حضرت ﷺ هغې ښځې ته اووے ته دا شمار یاد لره تر هغې پورې چه مونږ واپس راشو کچرے الله غواړی. بیا مونږ خلق مخکښې لاړو تردے پورے چه تبوك ته اورسیدو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل نن شپه به ډیره زوره وره سیلئ چلیږی نو څوك او دریږی مه او د چا سره چه اوښ وی هغه د هغه لره مضبوط اوتړی. بیا هم هغسے زور آوره سیلئ راغله یو سړے اودریدو هغه لره هوا والوزوو او د طے په دوو غرونو کښې ئے اوغورځوو. ددے نه پس د علماء خوئ ایلچی چه د ایله حاکم وو یو قاصد چه یو کتاب ئے رااخستے وو راغے او رسول الله ﷺ له ئے یو سپین خچر په تحفه کښې راوستو. رسول الله ﷺ هغهٔ ته جواب اولیکو او یو څادر ئے په تحفه کښې اولیږلو. بیا مونږ واپس شو تردے چه وادی القرٰی ته رااورسیدو. حضرت ﷺ د هغې ښځې نه د باغ د میوے د حال تپوس اوکړو. چه څومره میوه اوخته ؟ هغې اووے پوره لس وسقه اوختله حضرت ﷺ اوفرمائیل زهٔ په جلتئ ځم ستاسو نه چه د چا زړهٔ غواړی هغه د خما سره په جلتئ لاړ شی او د چا زړهٔ چه غواړی هغه د پاتے شی. مونږ رااووتو تردے پورے چه

فَلْيُسْرِعْ مَعِي وَمَنْ شَاءَ فَلْيَمْكُثْ فَخَرَجْنَا حَتَّى أَشْرَفْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ فَقَالَ هَذِهِ طَابَةُ وَهَذَا أُحُدٌ وَهُوَ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ خَيْرَ دُورِ الْأَنْصَارِ دَارُ بَنِي النَّجَّارِ ثُمَّ دَارُ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ ثُمَّ دَارُ بَنِي عَبْدِ الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ ثُمَّ دَارُ بَنِي سَاعِدَةَ وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ فَلَحِقَنَا سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ فَقَالَ أَبُو أُسَيْدٍ أَلَمْ تَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيَّرَ دُورَ الْأَنْصَارِ فَجَعَلَنَا آخِرًا فَأَدْرَكَ سَعْدٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ خَيَّرْتَ دُورَ الْأَنْصَارِ فَجَعَلْتَنَا آخِرًا فَقَالَ أَوَ لَيْسَ بِحَسْبِكُمْ أَنْ تَكُونُوا مِنَ الْخِيَارِ

مدینه مو په نظر راغله حضرت ﷺ اوفرمائیل دا طابه ده (طابه د مدینې منورې نوم دے) او دا أحد غر دے چه دا مونږ لره خوښوی او مونږ دهٔ لره خوښوو. بیائے اوفرمائیل د انصارو په ټولو کورونو کښې د بنی نجّار کور غوره دے (ولې چه هغه د ټولو نه مخکښې مسلمانان شوی دی) بیا د بنی عبد الاشهل کور، بیا د بنی حارث بن خزرج کور بیا د بنی ساعده کور. او انصارو لره په ټولو کورو کښې بهتری ده. بیا سعد بن عبادهؓ زمونږ سره میلاؤ شو ابوأسید هغوی ته اووے تا وانۀ ریدل چه رسول الله ﷺ د انصارو د کورونو غوره والے بیان کړو نو مونږ ئے د ټولو نه آخر کړو. دا دے په اوریدو سعدؓ د رسول الله ﷺ سره ملاقات اوکړو. او عرض ئے اوکړو. یا رسول الله! تاسو د انصارو فضیلت بیان کړو او مونږ مو د ټولو په آخر کښې کړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل ولې تاسو له دا پوره نۀ ده چه تاسو په غوره والی کښې پاتې شئ.

عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى بِهَذَا الْإِسْنَادِ إِلَى قَوْلِهِ وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ مِنْ قِصَّةِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ وَزَادَ فِي حَدِيثِ وُهَيْبٍ فَكَتَبَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَحْرِهِمْ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِ وُهَيْبٍ فَكَتَبَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ

د عمرو بن یحیٰی نه په دے اسناد سره تر دے مروی دی چه د انصارو په ټولو کورونو کښې ښۀ والے دے. او دے نه مخکښې د سعد بن عباده قصه ذکر کړے نۀ ده. او د وهیب په حدیث کښې دا زیاته ده چه رسول الله ﷺ دهٔ ته خط اولیکهٔ[1].

بَابُ تَوَكُّلِهِ عَلَى اللَّهِ تَعَالَى

باب: د حضرت ﷺ د توکل بیان

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ غَزْوَةً قِبَلَ نَجْدٍ فَأَدْرَكْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د جابر بن عبدالله نه روایت دے چه مونږ د نجد په طرف د رسول الله ﷺ سره جهاد له لاړو مونږه حضرت ﷺ لره په یوه وادۍ کښې

[1] په دے حدیث کښې څو معجزے دی د رسول الله ﷺ. یو خو د میوے دا سے ټهیک اندازه لګول چه د ښوینو پوهانو نه هم نۀ شی کیدے. دویم د مخکښې نه د هوا خبر ورکول. دریم منع کول خلقو لره د اودریدو نه په هوا کښې.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ تَحْتَ شَجَرَةٍ فَعَلَّقَ سَيْفَهُ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا قَالَ وَتَفَرَّقَ النَّاسُ فِي الْوَادِي يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ رَجُلًا أَتَانِي وَأَنَا نَائِمٌ فَأَخَذَ السَّيْفَ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ قَائِمٌ عَلَى رَأْسِي فَلَمْ أَشْعُرْ إِلَّا وَالسَّيْفُ صَلْتًا فِي يَدِهِ فَقَالَ لِي مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قَالَ قُلْتُ اللهُ ثُمَّ قَالَ فِي الثَّانِيَةِ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قَالَ قُلْتُ اللهُ قَالَ فَشَامَ السَّيْفَ فَهَا هُوَ ذَا جَالِسٌ ثُمَّ لَمْ يَعْرِضْ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ

اوموندو چه د ازغو اوني پكښ ډيرې وې. حضرت ﷺ د يوې اوني لاندې كوز شو او خپله توره ئې يو ښاخ ته واچوله او خلق جدا جدا خواره شول د هغه وادئ د اونو په سورو كښ. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه يو سړے خما خواله راغے زۀ اودۀ وم. هغۀ خما هغه توره د ښاخ نه راواخسته او زۀ چه راويخ شوم نو هغه خما په سر باندې ولاړ وو. زۀ هغه وخت خبر شوم هر كله چه د هغۀ په لاس كښ ويستلې توره راغله هغۀ اووے اوس تا څوك خلاصولے شي خما نه ما اووے. الله. بيا په دويم خل هغه هم داسې اووے. ما اووے. الله. ددې په اوريدو هغه توره په قاش كښ كينبوده. او هغه سړے دا ناست دے. بيا رسول الله ﷺ هغۀ ځۀ تعرض او نۀ كړو[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَهُمَا أَنَّهُ غَزَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ غَزْوَةً قِبَلَ نَجْدٍ فَلَمَّا قَفَلَ النَّبِيُّ ﷺ قَفَلَ مَعَهُ فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ يَوْمًا ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ وَمَعْمَرٍ

د جابر بن عبد الله انصارى رضی الله عنه نه روايت دے. او دا د جناب رسول الله ﷺ د اصحابو كرامو رضی الله عنهم نه دے فرمائي چه مونږ جهاد ته لاړو د رسول الله ﷺ سره د نجد په طرف هر كله چه حضرت ﷺ واپس شو مونږ هم ورسره واپس شو. پس بياموندو دوی يو ويونكى لره يوه ورځ. بيائے بيان كړو حديث لره په داسې شان لكه چه پورته تير شو د ابراهيم بن سعد رحمه الله او معمر رحمه الله نه

عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِذَاتِ الرِّقَاعِ بِمَعْنَى حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ وَلَمْ يَذْكُرْ ثُمَّ لَمْ يَعْرِضْ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

جابر رضی الله عنه وئيلي دي. مونږ د جهاد نه د رسول الله ﷺ سره واپس راتلو هر كله چه مونږ ذات الرقاع ته راورسيدو (مخكښې حديث) د زهرى د حديث او په دې كښ دا ذكر نۀ دي چه رسول الله ﷺ د دوی سره تعرض او نكړو

[1] سبحن الله توكل او بهادري او استقلال او عزيمت دے ته واني چه په داسې سخت وخت كښ هم مضبوط پاتے وي. هسې خو تول د ښه خصلتونو دعوه كوي او خپله لوئي بيانوي خو د امتحان په وخت بيا چرته ورك شي. ما په خپلو سترگو لوئے لوئے دوزماران لاپے كونكى ليدلى دي چه په لږ شان مصيبت كښ د هغوى حوصله تلے ده خنو زهر خوړلي دي او روح ئے وركړے دے لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. دا حديث هم د حضرت ﷺ د نبوت يو لوئے ثبوت دے دومره شجاعت او بهادري هم د نبوت نخښه ده

بَاب بَيَانِ مَثَلِ مَا بُعِثَ بِهِ النَّبِيُّ ﷺ مِنَ الْهُدٰى وَالْعِلْمِ

عَنْ أَبِي مُوسٰى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مَثَلَ مَا بَعَثَنِي اللهُ بِهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنَ الْهُدٰى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَصَابَ أَرْضًا فَكَانَتْ مِنْهَا طَائِفَةٌ طَيِّبَةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ فَأَنْبَتَتِ الْكَلَأَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيرَ وَكَانَ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتِ الْمَاءَ فَنَفَعَ اللهُ بِهَا النَّاسَ فَشَرِبُوا مِنْهَا وَسَقَوْا وَرَعَوْا وَأَصَابَ طَائِفَةً مِنْهَا أُخْرٰى إِنَّمَا هِيَ قِيعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً وَلَا تُنْبِتُ كَلَأً فَذٰلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِي دِينِ اللهِ وَنَفَعَهُ بِمَا بَعَثَنِي اللهُ بِهِ فَعَلِمَ وَعَلَّمَ وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذٰلِكَ رَأْسًا وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللهِ الَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ

باب: رسول الله ﷺ چه کوم هدایت او علم راوړے راغلے دے د هغے مثال

د ابوموسیٰ رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مثال د هغے څۀ چه الله ماله راکړی دی هدایت او علم داسے دے لکه باران چه په زمکه اووریدو په هغے کښں څۀ حصه داسے وه چه هغے اوبۀ رابښکودے او گیاه وغیره سبزی ئے زرغونه کړه. او څۀ حصّه د هغے ډیره سخته وه هغے اوبۀ سالمے او ساتلے او الله تعالی ترے خلقو ته فائده ورکړه د هغے نه خلقو هغے لره اوڅښلے او په نورونړ اوڅکولے. او گیائے پرے اوخوروله (د بخاری په روایت کښں زرعوا دے یعنی زمیداره ئے اوکړه په هغے سره) او څۀ حصه په هغے کښں بیکاره میدان دے نۀ خو اوبۀ منع کوی او نۀ گیا راتوکوی (لکه خوېښن کمر چه اوبۀ پری اولگی او په مخه لاړے شی) نو دا مثال دد ے دے چه څوك د الله په دین پوهه شو او الله هغۀ له فائده ورکړه د هغه څیز چه ماته ئے عنایت کړے دے هغه حضرت ﷺ هم اوپیژندو او نوروته ئے هم اوخودلو او چا چه دد ے په طرف سَر اوچت نۀ کړو (یعنی توجه ئے اونۀ کړه. او د الله تعالی هدایت ئے قبول نۀ کړو هغه هدایت چه راالیږلے ئے یم زۀ به هغے سره[1].

---

[1] یعنی د زمکے درے قسمونه دی دغه شان خلق هم په درے قسمه دی

اول قسم: چه کومه په اوبو سره ژوندئ کیږی او وابښه او ترکاری او میوے زرغونه وی خلق د هغے نه فائده اخلی دد ے مثل هغه سړے دے چا چه د دین علم یاد کړو پخپله ئے پرے هم عمل اوکړو خلقو ته ئے هم ایزده کړو هغوی هم فائده اوچته کړه.

دویم قسم: هغه زمکه چه هغه زرغونول نه کوی لیکن اوبۀ محفوظ ساتی چه په هغے سره بنیادمو او خناورو ته نفع کیږی دد ے مثال هغه سړے دے چا چه دینی علم یاد کړے دے لیکن د هغه دومره فهم نشته چه د هغے نه باریك مطلب اوباسی خو دۀ نه ↓اوری او نور خلق ترے فائده اوچته کړی.

دریم قسم: صفا او خوښنه زمکه چه هلته نه زرغونه کیږی او نه اوبۀ حصاریږی دد ے مثال هغه سړے دے چا چه د دین په طرف توجه نۀ وی کړے او نۀ ئے هغه یاد ساتلے وی (نووی)

بَاب شَفَقَتِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُمَّتِهِ

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مَثَلِي وَمَثَلَ مَا بَعَثَنِيَ اللهُ بِهِ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَتَى قَوْمَهُ فَقَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي رَأَيْتُ الْجَيْشَ بِعَيْنَيَّ وَإِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْعُرْيَانُ فَالنَّجَاءَ فَأَطَاعَهُ طَائِفَةٌ مِنْ قَوْمِهِ فَأَدْلَجُوا فَانْطَلَقُوا عَلَى مُهْلَتِهِمْ وَكَذَّبَتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ فَأَصْبَحُوا مَكَانَهُمْ فَصَبَّحَهُمُ الْجَيْشُ فَأَهْلَكَهُمْ وَاجْتَاحَهُمْ فَذَلِكَ مَثَلُ مَنْ أَطَاعَنِي وَاتَّبَعَ مَا جِئْتُ بِهِ وَمَثَلُ مَنْ عَصَانِي وَكَذَّبَ مَا جِئْتُ بِهِ مِنَ الْحَقِّ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُ أُمَّتِي كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا فَجَعَلَتِ الدَّوَابُّ وَالْفَرَاشُ يَقَعْنَ فِيهِ فَأَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ وَأَنْتُمْ تَقَحَّمُونَ فِيهِ

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا

باب: د حضرت ﷺ په خپل امت څنګه شفقت وو د هغې بیان

د ابوموسی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیشکه مثال څما او مثال د هغه دین چه رالیږلے یم زۀ الله پاك په هغې سره د یو داسے سړی دے چه هغه خپل قوم ته راغے او اوئے وئیل اے څما قومه بیشکه ما اولیدو لښکر (د دشمن) لره په خپلو سترګو سره. او زۀ لغړ یرووِلو والا یم. پس تښتئ زر زر. اوس د هغۀ په قوم کښې څنو د هغۀ وینا اومنله او د ماښام کیدو سره اوتښتیدل او په آرام سره لاړو. او څنو د هغۀ وینا دروغ اوګڼړله او د سحره پورے په هغه ځائے پاتے شو. او د سحر کیدو سره لښکر په هغوی باندے راغے او تباه ئے کړل او د زیلے نه ئے ختم کړل. پس دغه مثال دے د هغه چا چه څما وینا او نۀ منله او دروغ ئے اوګڼړو رښتونی دین لره[1].

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. څما مثال او څما د امت مثال داسے دے لکه چه څوك اُور بل کړی او بیا په هغې چینجی او پتنګان غورځیدل شروع شی او زۀ ستاسو شاګانو نیولو والا یم او تاسو بے صبره په پټو سترګو په هغې کښې غورځیږی[2].

د همام بن منبه نه روایت دے چه مونږ ته حضرت ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څو احادیث بیان کړل. یو د هغو نه دا دے چه رسول الله ﷺ

---

[1] په عربو کښې دا دستور وو چه چا به د دشمن لښکر اولیدو چه حملے کولو له راځی. نو هغه به خان بربنډ کړو او خپلے کپړے به ئے په یو لرګی کښې اوچتے کړے او راتلو به او خپل قوم ته به ئے دا وینا کوله چه زر زر تښتئ. د بربنډیدو نه غرض دا وو چه دۀ لره خلق لوئے آفت اوګڼړی او دۀ ته رښتونے اووائی او زر اوتښتی.

[2] یعنی خلق په حرص او ګناهونو کښې بے صبره غورځیږی لکه چه په اُور کښې چینجی او پتنګان په خاشحالئ سره غورځیږی اوسوزی او حضرت ﷺ د شفقت په کمال سره دغه نادانانو لره ډیر منع کوی. څوك چه د چا ملا اونیسی او منع کوی ئے خو افسوس چه نادان حرصی نه منع کیږی

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَثَلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهَا جَعَلَ الْفَرَاشُ وَهٰذِهِ الدَّوَابُّ الَّتِي فِي النَّارِ يَقَعْنَ فِيهَا وَجَعَلَ يَحْجُزُهُنَّ وَيَغْلِبْنَهُ فَيَتَقَحَّمْنَ فِيهَا قَالَ فَذٰلِكُمْ مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ أَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ هَلُمَّ عَنِ النَّارِ هَلُمَّ عَنِ النَّارِ فَتَغْلِبُونِي تَقَحَّمُونَ فِيهَا

اوفرمائیل خما مثال پشان د هغه سړی دے چه هغه اوربل کړی. هر کله چه د هغے نه چا پیره رڼړا شی نو په هغے کښ چینجی او دا خناور کوم چه اور کښ غورځیدل غواړی او هغه سړے دوی لره منع کوی لیکن هغه نۀ منع کیږی په هغے کښ غورځیږی. زۀ ستاسو ملا نیسم د جهنم نه منع کوم، او وایم د جهنم د خوا نه راځئ؛ او تاسو نۀ منئ؛ په هغے کښ ننوځئ؛

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَوْقَدَ نَارًا فَجَعَلَ الْجَنَادِبُ وَالْفَرَاشُ يَقَعْنَ فِيهَا وَهُوَ يَذُبُّهُنَّ عَنْهَا وَأَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ وَأَنْتُمْ تَفَلَّتُونَ مِنْ يَدِي

د جابر رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل خما او ستاسو مثال د هغه سړی په شان دے چه اُور بل کړی ملخان او پتنګان په هغے کښ غورځیږی. او هغه دوی لره منع کوی. دغسے ما ستاسو ملا د انګار نه کلکه نیولے ده او تاسو خما د لاس نه اوځئ؛

بَابُ ذِكْرِ كَوْنِهِ ﷺ خَاتَمَ النَّبِيِّينَ

باب: د حضرت ﷺ خاتم النبیّین کیدل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلِي وَمَثَلُ الْأَنْبِيَاءِ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى بُنْيَانًا فَأَحْسَنَهُ وَأَجْمَلَهُ فَجَعَلَ النَّاسُ يُطِيفُونَ بِهِ يَقُولُونَ مَا رَأَيْنَا بُنْيَانًا أَحْسَنَ مِنْ هٰذَا إِلَّا هٰذِهِ اللَّبِنَةَ فَكُنْتُ أَنَا تِلْكَ اللَّبِنَةَ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خما مثال او د نورو پیغبرانو علیهم السلام مثال داسے دے لکه چه یو سړے یو محل جوړ کړی زیات مزیدار او ښکلے. خلق د هغے نه چا پیره ګرځی او وائی چه مونږ دد ے نه غوره ابادی نۀ ده لیدلے مګر د یوے خښتے ځائے پکښ خالی دے. او زۀ هغه خښته یم (چه په هغے سره د نبوت محل پوره شو. اوس به بل یو نبی ﷺ خما نه رستو نۀ وی)

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلِي وَمَثَلُ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ ابْتَنَى بُيُوتًا فَأَحْسَنَهَا

همام بن منبه وائی چه مونږ ته ابوهریره رضی الله عنه څو احادیث د رسول الله ﷺ واورول یو د هغو نه دا دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. چه خما مثال او خما نه مخکښ د نورو پیغمبرانو علیهم السلام مثال داسے دے لکه یو سړی څو کورونه جوړ کړل او هغه ئے ښائسته کړل او په هر قسم ارائش ئے پوره کړل مګر په یو کُټ کښ ئے د یوے خښتے ځائے

وَأَجْمَلَهَا وَأَكْمَلَهَا إِلاَّ مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ مِنْ زَوَايَاهَا فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوفُونَ وَيُعْجِبُهُمُ الْبُنْيَانُ فَيَقُولُونَ أَلاَّ وَضَعْتَ هَاهُنَا لَبِنَةً فَيَتِمَّ بُنْيَانُكَ فَقَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنْتُ أَنَا اللَّبِنَةَ

پرینبودو. اوس خلق د هغې نه چاپیره تاویدل او د هغوی هغه عمارت خوښ شو. هغوی مکان والاته اووے مخکښې تیریږي او هغه د خپل امت پیش خیمه وي او هر کله چه د یو امت تباهي غواړي نو هغه هلاك کوي د هغه نبي په مخکښې او نبي د هغوی په تباهۍ سره خوشحالیږي ځکه چه هغوی دروغجن گنړلے دے نبي لره او د هغهٔ وینا ئې نه ده منلے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلِي وَمَثَلُ الأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى بُنْيَانًا فَأَحْسَنَهُ وَأَجْمَلَهُ إِلاَّ مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ مِنْ زَوَايَاهُ فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوفُونَ بِهِ وَيَعْجَبُونَ لَهُ وَيَقُولُونَ هَلاَّ وُضِعَتْ هَذِهِ اللَّبِنَةُ قَالَ فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلي دي چه خما مثال او خما نه مخکښې د پیغمبرانوؑ مثال داسې دے لکه چه یو سړي لوئې مکان جوړ کړو او ډیر ښهٔ ئې جوړ کړو او هغهٔ ئې خائسته او آرامده کړو سوا د یو گوټ نه چه په هغې کښې د یوے خښتې خائے خالي پریخودهٔ. خلقو هغې لره د هر طرف نه اولیدهٔ او د هغې په جوړولو ئې حیرانتیا ښکاره کړه مگر اوئې وئیل څهٔ ښهٔ به وے کهٔ چرے دلته هم یوه خښته لگیدلے وے. حضرتﷺ اوفرمائیل هغه خښته زهٔ یم او د پیغمبرانوؑ نه د ټولو آخري یم.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلِي وَمَثَلُ النَّبِيِّينَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ

د ابوسعیدؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلي دي. خما مثال او د مخکښینو پیغمبرانو مثال (مخکښې د پورتني حدیث پشان ذکر کړو.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلِي وَمَثَلُ الأَنْبِيَاءِ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى دَارًا فَأَتَمَّهَا وَأَكْمَلَهَا إِلاَّ مَوْضِعَ لَبِنَةٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَدْخُلُونَهَا وَيَتَعَجَّبُونَ مِنْهَا وَيَقُولُونَ لَوْلاَ مَوْضِعُ اللَّبِنَةِ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَأَنَا مَوْضِعُ اللَّبِنَةِ جِئْتُ فَخَتَمْتُ الأَنْبِيَاءَ صَلَوَاتُ اللهِ

د جابرؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلي دي خما مثال او د نورو پیغمبرانوؑ مثال د هغه سړي پشان دے چه هغهٔ یو کور جوړ کړو هغې لره ئې پوره کړو او ختم ئې کړو. خو د یوے خښتې خائے پکښې پریخودو. خلقو هغې ته دننه تلل شروع کړل او په حیرانتیا سره به ئې وئیل کاش چه ددے خښتې دا خائے پکښې هم خالي نهٔ وے. حضرتﷺ اوفرمائیل زهٔ د هغه خښتې په خائے یم. زهٔ راغلم او

وسلامه علیهم اجمعین

پیغمبران ختم شو

عن سلیم بهذا الإسناد مثله وقال بدل أتمها أحسنها

د سلیم نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے او په دے کښې "پوره کړو" په ځائے "خائست ورکړے" دے

باب إذا أراد الله تعالى رحمة أمة قبض نبيها قبلها

باب هر کله چه په یو امت باندے د الله تعالی مهربانی وی نو د هغهٔ پیغمبر د هغوی په مخکښې تیریږی

عن أبي موسى عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إن الله عز وجل إذا أراد رحمة أمة من عباده قبض نبيها قبلها فجعله لها فرطا وسلفا بين يديها وإذا أراد هلكة أمة عذبها ونبيها حي فأهلكها وهو ينظر فأقر عينه بهلكتها حين كذبوه وعصوا أمره

د ابوموسیٰ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله جل جلاله وعم نواله چه هر کله په یو امت باندے رحم کوی نو د هغے نبی د امت د هلاکت نه مخکښې تیریږی او هغه د خپل امت پیش خیمه وی او هر کله چه د یو امت تباهی غواړی نو هغوی هلاك کړی د هغه امت د نبی د وړاندے او نبی د هغوی په تباهئ خوشحاله وی ځکه چه هغوی دروغجن ګڼړلے وو نبی لره او د هغهٔ وینا ئے اونهٔ منله

باب إثبات حوض نبينا ﷺ وصفاته

باب : د حوض کوثر بیان

عن جندب يقول سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول أنا فرطكم على الحوض

د جندب نه روایت دے وائی ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. زهٔ به ستاسو پیش خیمه په حوض باندے (یعنی مخکښې به لاړ شم ستاسو د راتلو انتظار به کوم او ستاسو د څښولو سامان به برابر وم)[1]

عن أبي حازم قال سمعت سهلا يقول سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول أنا فرطكم على الحوض من ورد شرب ومن شرب لم يظمأ أبدا وليردن علي أقوام أعرفهم

د ابوحازم نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زهٔ به ستاسو پیش خیمه یمه په حوض کوثر باندے. څوك چه هلته راځی هغه به دد ے حوض نه څښی او څوك چه دد ے نه اوڅښی بیا به چرته نهٔ تږے کیږی. او ځما مخے ته به څهٔ خلق راځی چه هغه

[1] قاضی عیاض وئیلی دی د حوض کوثر حدیثونه صحیح دی او په دے باندے ایمان راوړل فرض دی او روایت کړی دی دے لره ګڼړو صحابوٴ تر دے پورے چه هغه د تواتر درجے ته رسیدلی دی (نووی)

وَيَعْرِفُونِي ثُمَّ يُحَالُ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ قَالَ أَبُو حَازِمٍ فَسَمِعَ النُّعْمَانُ بْنُ أَبِي عَيَّاشٍ وَأَنَا أُحَدِّثُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ فَقَالَ هَكَذَا سَمِعْتَ سَهْلًا يَقُولُ قَالَ فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَ وَأَنَا أَشْهَدُ عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ لَسَمِعْتُهُ يَزِيدُ فَيَقُولُ إِنَّهُمْ مِنِّي فَيُقَالُ إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا عَمِلُوا بَعْدَكَ فَأَقُولُ سُحْقًا سُحْقًا لِمَنْ بَدَّلَ بَعْدِي

زۀ پیژنم او هغوی ما پیژنی بیا به هغه منع کړے شی خما خواله د راتلو نه زۀ به وایم دا خما خلق دی جواب به میلاؤ شی چه تۀ نۀ نے خبر چه څنګه کړی دی دوی ستا نه روستو (یعنی کافر شوی دی او د اسلام نه واپس شوی دی. لکه چه د عربو ځنے قبیلے د حضرت ﷺ د وفات نه پس د اسلام نه واپس شوے وے) زۀ به اووایم چه لرے شی لرے شی چا چه خپل دین بدل کړے دے خما د وفات کیدو نه روستو[1]

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيثِ يَعْقُوبَ

ابوسعید خدری رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه د یعقوب (راوی) د حدیث په شان حدیث روایت کړے دے.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ وَزَوَايَاهُ سَوَاءٌ وَمَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ الْوَرِقِ وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَا يَظْمَأُ بَعْدَهُ أَبَدًا قَالَ وَقَالَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي عَلَى الْحَوْضِ حَتَّى أَنْظُرَ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ مِنْكُمْ وَسَيُؤْخَذُ أُنَاسٌ دُونِي فَأَقُولُ يَا رَبِّ مِنِّي وَمِنْ أُمَّتِي فَيُقَالُ أَمَا شَعَرْتَ مَا عَمِلُوا بَعْدَكَ وَاللَّهِ مَا

د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خما حوض د یوے میاشتے لار ده. د هغے څلور ګوټونه برابر دی (یعنی پلن والے او اوږد والے یو شان دے) د هغے اوبۀ د سپینوزرو نه زیاتے سپینے دی او د هغے بوئی د مشکو نه زیات ښۀ دے. په هغے چه کوم لوښی ایخودے شوی دی د هغے شمار د آسمان د ستورو برابر دے. څوك چه د هغے نه اوښی هغه به چرته هم تږے نۀ شی. عبد الله وائی. اسماء بنت ابوبکر رضی الله عنها اووے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ به په حوض کوثر باندے یم ګورم به چه ستاسو نه څوك څوك هلته راځی او څۀ خلق به خما خواله د راتلو نه منع کولے شی. زۀ به وایم اے خما پروردګاره ﷺ دا خما خلق دی، خما د امت دی جواب به ملاؤ شی تا ته معلومه نۀ ده کوم کار چه دوی ستا نه پس کړ دے. قسم په الله چه ستا نه پس دوی لږ هم نۀ دی حصار شوی، په پوندو واپس شوی دی (د

[1] قاضی رحمه الله وئیلی دی چه روستو د حساب کتاب نه به دا ځنیل وی او د جهنم نه د خلاصی موندو نه روستو په دے صورت کښ به بیا چرته هم نۀ تږے کیږی او ځنے وائی ددے حوض نه به هغه څوك ښی چه د هغه دپاره د جهنم نه خلاصے لیکلے شوے وی کچرے د دغه حوض نه اوښی او بیا یو مسلمان جهنم ته هم لاړ شی نو هغه ته به د تندے عذاب نۀ وی. بلکه نور عذاب به وی (نووی)

بَرِحُوا بَعْدَكَ يَرْجِعُونَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ قَالَ فَكَانَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ أَنْ نَرْجِعَ عَلَى أَعْقَابِنَا أَوْ أَنْ نُفْتَنَ عَنْ دِينِنَا

اسلام نه په دغه خلقو کښې خارجي هم داخل دي چه د حضرت علیؓ د ملګرتیا نه جدا شوي وو او مسلمانان ئې کافر ګڼرلي وو. او هغه خلق پکښې هم داخل دي چاچه د حضرت ﷺ په وصیت عمل نه وي کړے او د حضرت ﷺ اهل بیت ئې تنګ کړي او شهیدان کړي دي معاذ الله، ابن ابی ملیکه (چه دد ے حدیث راوي دے) به وئیل. یا الله مونږ پتا باندے پناه غواړو په پوندو باندے د واپس کیدو نه یا د دین په باره کښې په فتنه کښې د ګرفتار کیدو نه

عَنْ عَائِشَةَ تَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَصْحَابِهِ إِنِّي عَلَى الْحَوْضِ أَنْتَظِرُ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ مِنْكُمْ فَوَاللَّهِ لَيُقْتَطَعَنَّ دُونِي رِجَالٌ فَلَأَقُولَنَّ أَيْ رَبِّ مِنِّي وَمِنْ أُمَّتِي فَيَقُولُ إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا عَمِلُوا بَعْدَكَ مَا زَالُوا يَرْجِعُونَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه ما اوریدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه حضرت ﷺ په خپلو صحابو کښې ناست وو او فرمائیل ئې زۀ به په حوض کوثر باندے ستاسو انتظار کوم چه کوم کوم به ستاسو نه راځي. په الله ؓ قسم دے چه څنې خلق به خما خواله د راتلو نه منع کولے شي. زۀ به وایم اے خما ربه دا خما او خما د امت خلق دي پروردګار به اوفرمائي تاته معلومه نه ده دوي چه څۀ کار کړے دے ستا نه روستو همیشه واپس شوي دي د دین نه[1].

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ كُنْتُ أَسْمَعُ النَّاسَ يَذْكُرُونَ الْحَوْضَ وَلَمْ أَسْمَعْ ذَلِكَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا كَانَ يَوْمًا مِنْ ذَلِكَ وَالْجَارِيَةُ تَمْشُطُنِي فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَيُّهَا النَّاسُ فَقُلْتُ لِلْجَارِيَةِ اسْتَأْخِرِي عَنِّي قَالَتْ إِنَّمَا دَعَا

د مؤمنانو د مور اُمّ سلمهؓ نه روایت دے چه ما به د خلقو نه د حوض کوثر ذکر اوریدلو او د رسول الله ﷺ نه مے نه وو اوریدلي. یوه ورځ خما وینځې خما سر ګومنزولو ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه اوئې فرمائیل اے خلقو! ما خپلې وینځې ته اووے ته روستو شه خما نه هغې اووے حضرت خو سړو ته وئیلي دي نه چه ښځو ته. ما اووے په خلقو کښې زۀ هم داخله یم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل زۀ به تاسو ته ناست یم په حوض کوثر باندے. نو تاسو هوښیار شئ: څوک د

---

[1] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه حضرت ﷺ ته د وفات نه پس د خپل امت تفصیلي حال نوم په نوم معلومیدے نۀ شي دا علم صرف الله ته دے او هغه چه په یو روایت کښې راغلي دي چه د ګل په ورځ او د زیارت په ورځ د امت اعمال ماته پیش کیږي دد ے نه مراد احمالي پیشي ده نه تفصیلي

الرِّجَالَ وَلَمْ يَدْعُ النِّسَاءَ فَقُلْتُ إِنِّي مِنَ النَّاسِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَكُمْ فَرَطٌ عَلَى الْحَوْضِ فَإِيَّايَ لَا يَأْتِيَنَّ أَحَدُكُمْ فَيُذَبُّ عَنِّي كَمَا يُذَبُّ الْبَعِيرُ الضَّالُّ فَأَقُولُ فِيمَ هَذَا فَيُقَالُ إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ فَأَقُولُ سُحْقًا

ستاسو نه داسے نه وی چه خما خواله راشی او بیا واپس کړے شی لکه چه بے لارے شوے اوښ واپس کړلے شی زۀ به لووایم دا ولے واپس کړلے شی جواب به میلاؤ شی تاته معلومه نه ده دوی چه کوم کار کړے دے ستا نه رستو دوی نوے نوے خبرے راوستلی دی (په قسم قسم بدعتونو اعتقاد او عمل کښې) زۀ به لووایم نو لرے شئ

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ تُحَدِّثُ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهِيَ تَمْتَشِطُ أَيُّهَا النَّاسُ فَقَالَتْ لِمَاشِطَتِهَا كُفِّي رَأْسِي بِنَحْوِ حَدِيثِ بُكَيْرٍ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ عَبَّاسٍ

د حضرت اُم سلمه رضی الله عنها نه روایت دے چه هغے په منبر باندے د رسول الله ﷺ آواز واوریدو. او هغے سر ګومنزه وو هغوی سر ګومنزولو والا ته اووے. بس کړه (مخکښې حدیث د قاسم بن عباس د روایت کړے شوے د بکیر د حدیث پشان

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلَاتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ وَإِنِّي وَاللهِ لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الْآنَ وَإِنِّي قَدْ أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الْأَرْضِ أَوْ مَفَاتِيحَ الْأَرْضِ وَإِنِّي وَاللهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَتَنَافَسُوا فِيهَا

د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے چه یوه ورځ رسول الله ﷺ راااووتو او د اُحد په شهیدانو باندے ئې مونځ اوکړو لکه چه د جنازے مونځ کوی بیا د منبر په طرف راغے او اوئې فرمائیل زۀ به ستاسو پیش خیمه یم او ګواه به یم او په الله قسم دے چه زۀ حوض لره په دے وخت وینمه او ما ته د زمکے د خزانو کنجانے (د خزانو نه مراد د ملکونو فتح کیدل او ډیر مال حاصلیدل [۲] مصحح) میلاؤ شوی دی یا د زمکے کنجیانے. او په الله قسم دے چه خما دا یره نشته چه تاسو به خما نه پس مشرکان شئ بلکه دا یره ده چه تاسو به د دنیا په حرص کښې راشئ او د یو بل سره به حسد شروع کړئ[۱].

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ

د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د اُحد په شهیدانو

---

[۱] او د دنیا دپاره به د آخرت خیال پریږدئ: مسلمانانو د حضرت ﷺ د وفات نه څو ورځے پس د دغه کارونه شروع کړل او په خپلو کښې ئې د دشمنئ بنیاد اوغورځوو معاویه د حضرت علی مرتضی سره اوجنګیدو او یزید خاندان نبوت تباه کړو او حجاج عبد الله بن زبیر شهید کړلو او د فتنو سلسله شروع شوه د هغه ورځے نه د نن ورځے پورے د مسلمانانو دغه حال دے چه په یو امام یا خلیفه باندے تول مسلمانان جمع نه شو آخر کافرانو موقعه اوموندله او په دوی باندے غالب شو او د دوی قوت د خاورو سره میلاؤ شو

اللهِ ﷺ على قتلى أُحُدٍ ثُمَّ صَعِدَ الْمِنبَرَ كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ فَقَالَ إِنِّي فَرَطُكُمْ على الْحَوْضِ وَإِنَّ عَرْضَهُ كَمَا بَيْنَ أَيْلَةَ إِلَى الْجُحْفَةِ إِنِّي لَسْتُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي وَلَكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا وَتَقْتَتِلُوا فَتَهْلِكُوا كَمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ قَالَ عُقْبَةُ فَكَانَتْ آخِرَ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَلَى الْمِنبَرِ

باندے مونځ اوکړو بیا منبر ته اوختو لکه څوک چه رخصتوی ژوندو او مړو لره. او اوئے فرمائیل زۀ به تاسو ته ولاړ یم په حوض باندے. او دغه حوض پلنوالے دومره دے لکه د ایله نه او جحفے پورے. (دا دواړه د خایونو نومونه دی. ایله د مدینے نه په پنځلس منزله او جحفه په اووۀ منزله باندے لرې دی) خما دا یره نشته دے چه تاسو به خما نه پس مشرکان شئ لیکن زۀ یریږم چه د دنیا د لالچ د پاره په خپلو کښې په جنګ نۀ شئ بیا به تباه شئ لکه څنګه چه ستاسو نه مخکښې خلق تباه شوی دی. عقبه وائی دا به آخری ځل باندے خما لیدل وو حضرت ﷺ لره په منبر باندے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ وَلَأُنَازِعَنَّ أَقْوَامًا ثُمَّ لَأُغْلَبَنَّ عَلَيْهِمْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أَصْحَابِي أَصْحَابِي فَيُقَالُ إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ به تاسو ته په مخکښې ناست یم په حوض کوثر باندے او د څو خلقو د پاره به خما سره جهګړه وی بیا به زۀ غالب شمه او عرض به اوکړم چه اے خما پالونکیه دا خو خما صحابه دی. جواب به میلاؤ شی تا ته معلومه نۀ ده چه دوی څۀ څۀ نوے نوے خبرے کړے دی ستاسو نه روستو.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ أَصْحَابِي أَصْحَابِي

د اعمش نه په دے اسناد سره روایت دے. او په دے کښې خما صحابه دی خما صحابه دی، ذکر نۀ دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِ الْأَعْمَشِ وَفِي حَدِيثِ شُعْبَةَ عَنْ مُغِيرَةَ سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ

عبدالله بن عمرؓ د رسول الله ﷺ نه د اعمش (راوی) د حدیث پشان روایت کړے دے. او شعبه چه د مغیره حدیث روایت کوی په هغے کښې دی چه مغیره وئیلی دی ما د ابووائل نه اوریدلی دی.

عَنْ حَارِثَةَ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَوْضُهُ مَا بَيْنَ صَنْعَاءَ وَالْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهُ الْمُسْتَوْرِدُ أَلَمْ تَسْمَعْهُ

د حارثهؓ نه روایت دے هغوی اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. حوض خما دومره لوئے دے لکه د صنعا نه مدینه (چه د یوے میاشتے لار ده) مستورد اووے تاسو د هغوی نه د لوبنو

قَالَ الْأَوَانِي قَالَ لَا فَقَالَ الْمُسْتَوْرِدُ تُرَى فِيهِ الْآنِيَةُ مِثْلَ الْكَوَاكِبِ

ذکر نهٔ دے اوریدلے. حارثه اووے نه مستورد اووے تهٔ به هلته د ستورو پشان لوښی اووینے.

عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَذَكَرَ الْحَوْضَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ الْمُسْتَوْرِدِ وَقَوْلَهُ

حارثه بن وهب خزاعی ؓ وئیلی دی چه اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه حضرت ﷺ فرمائیل او حضرت ﷺ د حوض بیان اوکړو د پورتنی حدیث پشان او په دے کښ د مستورد او د راوی قول ذکر نهٔ دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَمَامَكُمْ حَوْضًا مَا بَيْنَ نَاحِيَتَيْهِ كَمَا بَيْنَ جَرْبَاءَ وَأَذْرُحَ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ستاسو په مخکښ به یو حوض وی چه د هغے د دواړو غاړو په مینځ کښ به دومره فاصله وی لکه څومره چه په جرباء او اذرح کښ ده.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَمَامَكُمْ حَوْضًا كَمَا بَيْنَ جَرْبَاءَ وَأَذْرُحَ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ الْمُثَنَّى حَوْضِي

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے رسول الله فرمائیلی دی ستاسو د وړاندے به یو حوض وی چه د هغے د دواړو غاړو فاصله د جرباء او د اذرح د فاصلے هومره به وی او د ابن مثنّی په روایت کښ دی خما حوض

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ قَالَ عُبَيْدُ اللهِ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ قَرْيَتَيْنِ بِالشَّامِ بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ ثَلَاثِ لَيَالٍ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ بِشْرٍ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ

د عبید الله ؓ نه په دے اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے او دومره زیاته ده چه عبید الله ؓ وئیلی دی ما د نافع نه تپوس اوکړو جرباء او اذرح څهٔ دی نو هغوی اووے دوه کلی دی په شام کښ په دے دواړو کښ د دریو ورځو د لارے فاصله ده. یا د دریو شپو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللهِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه د رسول الله ﷺ نه د عبید الله د حدیث پشان حدیث مروی دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَمَامَكُمْ حَوْضًا كَمَا بَيْنَ جَرْبَاءَ وَأَذْرُحَ فِيهِ أَبَارِيقُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ مَنْ وَرَدَهُ فَشَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ستاسو مخے ته یو حوض دے دومره لوئے لکه د جرباء نه د اذرح پورے په هغے کښ کوزے دی د اسمان د ستورو پشان څوک چه هلته راشی او د هغے نه اوڅښی هغه به هیڅکله نه تږے کیږی

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا آنِيَةُ الْحَوْضِ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ

د ابوذر غفاری ؓ نه روایت دے وائی چه ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ د حوض لوښی څنګه دی حضرت ﷺ راته اوفرمائیل قسم دے په هغه

بِيَدِهِ لَآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ وَكَوَاكِبِهَا أَلَا فِي اللَّيْلَةِ الْمُظْلِمَةِ الْمُصْحِيَةِ آنِيَةُ الْجَنَّةِ مَنْ شَرِبَ مِنْهَا لَمْ يَظْمَأْ آخِرَ مَا عَلَيْهِ يَشْخَبُ فِيهِ مِيزَابَانِ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْ شَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ عَرْضُهُ مِثْلُ طُولِهِ مَا بَيْنَ عَمَّانَ إِلَى أَيْلَةَ مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ

ذات د چا په لاس كښې چه د محمد روح دے چه د هغه حوض لوښى د اسمان د ستورونه زيات دي او د كومے شپے ستورى د هغه شپے ستورى چه په هغے كښې تيارهٔ يے وريځے وى هغه د جنت لوښى دي څوك چه په هغے كښې اوڅښى بيا به چرته هم نهٔ ترے كيږى د اخره پورے يعنى د هميشه پورے (ولے چه هلته آخر نشته دے) په دغه حوض كښې د جنت دوه پرنالے بهيږى څوك چه د هغے نه اوڅښى بيا به نه ترے كيږى د هغے پلنوالے او اوږد والے برابر دے لكه څومره فاصله چه د ايله نه عمان پورے ده (دا دواړه د شام ښارونه دى) د هغے اوبهٔ د پيو نه زياتے سپينے دى او د ګبين نه زياتے خوږے دى

عَنْ ثَوْبَانَ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي لَبِعُقْرِ حَوْضِي أَذُودُ النَّاسَ لِأَهْلِ الْيَمَنِ أَضْرِبُ بِعَصَايَ حَتَّى يَرْفَضَّ عَلَيْهِمْ فَسُئِلَ عَنْ عَرْضِهِ فَقَالَ مِنْ مَقَامِي إِلَى عَمَّانَ وَسُئِلَ عَنْ شَرَابِهِ فَقَالَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ يَغُتُّ فِيهِ مِيزَابَانِ يَمُدَّانِهِ مِنَ الْجَنَّةِ أَحَدُهُمَا مِنْ ذَهَبٍ وَالْآخَرُ مِنْ وَرِقٍ

د ثوبانؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلى دى زهٔ به د خپل حوض د غاړے نه خلق لرے كوم د يمن والاؤ دپاره به ئے په خپله لختهٔ سره وهم ترڅو پورى چه په يمن والاؤ باندے به د هغے اوبهٔ رااوبهيږى، (دا ځكه) ددے نه د يمن والاؤ لوئے غوره والے رااووتو. هغوى په دنيا كښې د حضرتﷺ مدد كړے دے او د دښمنانو نه ئے بچ كړے دے. حضرتﷺ به هم په آخرت كښې د هغوى مدد كوى او د تولو نه مخكښې به د حوض كوثر نه هغوى څښى) بيا د حضرتﷺ نه تپوس اوشو چه ددغه حوض پلنوالے څومره دے؟ حضرتﷺ اوفرمائيل لكه ددے ځائے نه د عمان پورے. بيا ترے تپوس اوشو د هغے اوبهٔ څنګه دى؟ حضرتﷺ اوفرمائيل چه د پيو نه زياتے سپينے دى. او د شهدو نه زياتے خوږے دى. دوه پرنالے په هغے كښې د جنت نه بهيږى يوه پرناله د سرو زرو ده او بله د سپينو زرو ده

عَنْ قَتَادَةَ بِإِسْنَادِ هِشَامٍ بِمِثْلِ حَدِيثِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د قتاده نه د هشام په اسناد سره د پورتنى حديث پشان روايت دے مګر په دے كښې حضرتﷺ فرمائيلى دى چه زهٔ به د قيامت په

عِنْدَ عُقْرِ الْحَوْضِ

ورخ د حوض کوثر په غاړه یم

عَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حدِيثَ الْحَوْضِ فَقُلْتُ لِيَحْيَى بْنِ حَمَّادٍ هٰذَا حَدِيثٌ سَمِعْتَهُ مِنْ أَبِي عَوَانَةَ فَقَالَ وَسَمِعْتُهُ أَيْضًا مِنْ شُعْبَةَ فَقُلْتُ انْظُرْ لِي فِيهِ فَنَظَرَ لِي فِيهِ فَحَدَّثَنِي بِهِ

ثوبان د نبی ﷺ نه د حوض کوثر حدیث روایت کړے دے ، راوی وئیلی دی ، ما یحیی بن حماد ته اووے چه دا حدیث ما د ابوعوانه نه اوریدلے دے نو یحیی اووے ما د شعبه نه هم اوریدلے دی نو ما اووے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَأَذُودَنَّ عَنْ حَوْضِي رِجَالًا كَمَا تُذَادُ الْغَرِيبَةُ مِنَ الْإِبِلِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ به د خپل حوض نه خلقو لره تیلوهم (یعنی کافرو لره) څنګه چه په دنیا کښې پردی اوښان شړلے کیږی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د پورتنی حدیث پشان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ قَدْرُ حَوْضِي كَمَا بَيْنَ أَيْلَةَ وَصَنْعَاءَ مِنَ الْيَمَنِ وَإِنَّ فِيهِ مِنَ الْأَبَارِيقِ كَعَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خما حوض دومره لوئے دے. لکه په مینځ د ایله او صنعاء د یمن نه او په هغے کښې لوښی د آسمان د ستورو برابر دی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ الْحَوْضَ رِجَالٌ مِمَّنْ صَاحَبَنِي حَتَّى إِذَا رَأَيْتُهُمْ وَرُفِعُوا إِلَيَّ اخْتُلِجُوا دُونِي فَلَأَقُولَنَّ أَيْ رَبِّ أُصَيْحَابِي أُصَيْحَابِي فَلَيُقَالَنَّ لِي إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی حوض له به یو څو سری داسے راشی چه هغه به په دنیا کښې خما سره اوسیدلی وی هر کله چه هغه زۀ اووینم او هغه زمونږ مخے ته راشی نو منع کولے به شی خما خواله د راتلو نه زۀ به اووایم چه اے پروردګاره، دا خو خما ملګری دی خما ملګری دی جواب به میلاؤ شی ته نۀ نے خبر چه دوی څۀ څۀ نوے طریقے راویستے دی ستا نه روستو

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْمَعْنَى وَزَادَ آنِيَتُهُ عَدَدُ النُّجُومِ

انسؓ د نبی ﷺ د پورتنی حدیث پشان حدیث روایت کړے دے او په دے کښې دا زیاته ده چه دده لوښی به د ستورو برابر دی په شمار کښې

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل خما د

وَسَلَّمَ قَالَ مَا بَيْنَ نَاحِيَتَيْ حَوْضِي كَمَا بَيْنَ صَنْعَاءَ وَالْمَدِينَةِ

حوض په دواړو غاړو کښې دومره فاصله ده څومره چه صنعاء او مدینے په مینځ کښې ده.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُمَا شَكَّا فَقَالَا أَوْ مِثْلَ مَا بَيْنَ الْمَدِينَةِ وَعَمَّانَ وَفِي حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ مَا بَيْنَ لَابَتَيْ حَوْضِي

انس د نبی ﷺ د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے مگر دے دوؤ راویانو شک کړے دے چه دا سے ئے ونیلی دی څومره چه د مدینے او د صنعاء په مینځ کښې ده، یا څومره د مدینے او د عمان په مینځ کښې ده. او د ابو عوانه په حدیث کښې د نَاحِيَتَيْ په ځائے لَابَتَيْ دے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرَى فِيهِ أَبَارِيقُ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ كَعَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ

د انس نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نو په دے حوض د سپینو زرو او د سروزرو کوزے لیدلے کیږی څومره چه د آسمان ستوری دی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِثْلَهُ وَزَادَ أَوْ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د پورتنی حدیث پشان اوفرمائیل او دا ئے زیاته کړه. یا د ستورو د شمار نه زیات.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ عَلَى الْحَوْضِ وَإِنَّ بُعْدَ مَا بَيْنَ طَرَفَيْهِ كَمَا بَيْنَ صَنْعَاءَ وَأَيْلَةَ كَأَنَّ الْأَبَارِيقَ فِيهِ النُّجُومُ

د جابر بن سمره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ به تاسو پیش خیمه یم په حوض باندے، د هغے د دواړو غاړو په مینځ کښې دومره فاصله ده لکه په صنعاء او ایله کښې، او د هغے کوزے د ستورو پشان دی.

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ كَتَبْتُ إِلَى جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ مَعَ غُلَامِي نَافِعٍ أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَكَتَبَ إِلَيَّ إِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ أَنَا الْفَرَطُ عَلَى الْحَوْضِ

د عامر بن سعد بن ابی وقاص نه روایت دے وائی چه ما جابر بن سمره ته د خپل غلام نافع سره یو خط اولیږلو چه په هغے کښې مے لیکلی وو بیان کړه ما ته څۀ چه تاسو د رسول الله ﷺ نه اوریدلی وی هغوی په جواب کښې اولیکل. ما د حضرت ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو زۀ به تاسو ته په حوض باندے پیش خیمه یم.

بَابُ إِكْرَامِهِ ﷺ بِقِتَالِ الْمَلَائِكَةِ مَعَهُ ﷺ

باب: د فرښتو د حضرت ﷺ په ملګرتیا کښې جنګیدل

عَنْ سَعْدٍ قَالَ رَأَيْتُ عَنْ يَمِينِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَنْ شِمَالِهِ يَوْمَ أُحُدٍ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا ثِيَابُ بَيَاضٍ مَا رَأَيْتُهُمَا قَبْلُ وَلَا بَعْدُ يَعْنِي جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ عَلَيْهِمَا السَّلَام

د سعد بن ابی وقاص نه روایت دے چه ما د أحد په ورځ د رسول الله ﷺ نه ښی طرفته او ګس طرفته دوه سړی اولیدل چه سپینے کپړے ئے اغوستے وے او د حضرت ﷺ د طرفنه ښه جنګیدل دد ے نه مخکښې او نه دد ے نه پس ما هغوی لره لیدلی وو هغه حضرت جبرائیل او میکائیل وو (الله تعالی د هغه فرښتو په ملګرتیا حضرت ﷺ ته عزت ورکړو. او دد ے نه معلومه شوه چه د فرښتو جنګیدل د بدر سره خاص نه وو)

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ يَوْمَ أُحُدٍ عَنْ يَمِينِ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَعَنْ يَسَارِهِ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا ثِيَابٌ بِيضٌ يُقَاتِلَانِ عَنْهُ كَأَشَدِّ الْقِتَالِ مَا رَأَيْتُهُمَا قَبْلُ وَلَا بَعْدُ

سعد بن ابی وقاص وئیلی دی چه ما د غزوه احد په ورځ د رسول الله ﷺ ښی او ګس طرفته دو سړی اولیدل چه سپینے کپړے ئے اغوستے وے او د رسول الله ﷺ د طرف نه سخت جنګ ئے کوؤ هغوی لره نه مے چرے مخکښې لیدلی وو نه روسته

بَاب فِي شَجَاعَةِ النَّبِيِّ ﷺ

باب : د حضرت ﷺ د بهادرئ بیان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ وَكَانَ أَجْوَدَ النَّاسِ وَكَانَ أَشْجَعَ النَّاسِ وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَانْطَلَقَ نَاسٌ قِبَلَ الصَّوْتِ فَتَلَقَّاهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاجِعًا وَقَدْ سَبَقَهُمْ إِلَى الصَّوْتِ وَهُوَ عَلَى فَرَسٍ لِأَبِي طَلْحَةَ عُرْيٍ فِي عُنُقِهِ السَّيْفُ وَهُوَ يَقُولُ لَمْ تُرَاعُوا لَمْ تُرَاعُوا قَالَ وَجَدْنَاهُ بَحْرًا أَوْ إِنَّهُ لَبَحْرٌ قَالَ وَكَانَ فَرَسًا يُبَطَّأُ

د انس بن مالك نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د ټولو خلقو نه زیات ښکلے وو او د ټولو نه زیات سخی وو. او د ټولو نه زیات بهادر وو. یوه شپه مدینے والاؤ ته یره شوه (د یو دشمن د حملے کولو) د کوم طرفنه چه آواز راتلو هغه طرفته خلق لاړل په لاره کښې رسول الله ﷺ واپس شوے میلاؤ شو (حضرت د خلقو نه مخکښې یواځے د خبر اخستو دپاره تشریف وړے وو) د آواز په طرف د ابوطلحه په آس باندے چه شاتورے وو. او د حضرت ﷺ په غاړه کښې توره وه. او فرمائیل ئے څۀ یره نشته څۀ یره نشته، حضرت ﷺ اوفرمائیل دا آس خو دریاب دے. او مخکښې هغه آس لټ وو (دا هم د حضرت ﷺ معجزه وه چه هغه آس تیز شو)

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ بِالْمَدِينَةِ فَزَعٌ فَاسْتَعَارَ

د انس نه روایت دے وائی چه د مدینے والاؤ سره یره شوه نو رسول

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا لِأَبِي طَلْحَةَ يُقَالُ لَهُ مَنْدُوبٌ فَرَكِبَهُ فَقَالَ مَا رَأَيْنَا مِنْ فَزَعٍ وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا

الله ﷺ د ابوطلحه ؓ نه آس اوغوښتو چه د هغه نوم مندوب وو په هغې باندې حضرت ﷺ سور شو او اونې فرمائيل موږ خو څه د يرې وجه او نه ليده او دا آس مې د درياب پشان اوموندؤ

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ جَعْفَرٍ قَالَ فَرَسًا لَنَا وَلَمْ يَقُلْ لِأَبِي طَلْحَةَ وَفِي حَدِيثِ خَالِدٍ عَنْ قَتَادَةَ سَمِعْتُ أَنَسًا

د شعبه په دې اسناد سره روايت دې. او د ابن جعفر ؓ په حديث کښې دی زموږ آس او دائې نه دی وئيلی د ابوطلحه ؓ او د خالد حديث چه هغوی د قتاده نه روايت کړو په دې کښې دی اوريدلې دی ما د انس ؓ نه

بَابُ جُودِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب د حضرت ﷺ د سخاوت بيان

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ إِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ سَنَةٍ فِي رَمَضَانَ حَتَّى يَنْسَلِخَ فَيَعْرِضُ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ فَإِذَا لَقِيَهُ جِبْرِيلُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ

د عبد الله بن عباس ؓ نه روايت دې وائی چه رسول الله ﷺ د ټولو خلقو نه زيات په مال ورکولو کښې سخی وو او د ټولو وختونو نه زيات د حضرت ﷺ سخاوت به په رمضان المبارك کښې وو. او جبرائيل ؑ به هر کال په رمضان کښې د حضرت ﷺ سره ملاقات کولو د آخر د مياشتې پورې به حضرت ﷺ هغوی ته قران اوروه وو. هر کله چه به جبرائيل ؑ د هغوی سره ملاقات کولو دغه وخت به حضرت ﷺ د تيزې هوا نه زيات سخی وو په مال ورکولو کښې (معلومه شوه چه په مبارکه مياشت او مبارك وخت کښې زيات سخاوت کول پکار دی)

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د زهری نه په دې اسناد سره دغسې روايت دې.

بَابُ حُسْنِ خُلُقِهِ ﷺ

باب: د حضرت ﷺ د اخلاقو بيان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ خَدَمْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِينَ وَاللهِ مَا قَالَ لِي أُفًّا قَطُّ وَلَا قَالَ لِي لِشَيْءٍ لِمَ فَعَلْتَ كَذَا وَهَلَّا فَعَلْتَ كَذَا زَادَ أَبُو الرَّبِيعِ لَيْسَ مِمَّا يَصْنَعُهُ الْخَادِمُ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَهُ وَاللهِ

د انس بن مالك ؓ نه روايت دې وائی چه ما د رسول الله ﷺ خدمت د لسو کالو پورې کړې دې. په الله قسم دې چه چرته حضرت ﷺ ماته اُف نه دې وئيلې (د عربو په ژبه کښې اُف د زجر يوه کلمه ده) او نه ئې چرته دا وئيلی دی چه تا دا کار ولې اوکړو يا دا کار د ولې او نه کړو. کوم چه خادم لره کول پکار وو

عَنْ أَنَسٍ بِمِثْلِهِ

د انس ؓ نه د پورتنی حديث پشان روايت دې.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَخَذَ أَبُو طَلْحَةَ بِيَدِي فَانْطَلَقَ بِي إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَنَسًا غُلَامٌ كَيِّسٌ فَلْيَخْدُمْكَ قَالَ فَخَدَمْتُهُ فِي السَّفَرِ وَالْحَضَرِ وَاللهِ مَا قَالَ لِي لِشَيْءٍ صَنَعْتُهُ لِمَ صَنَعْتَ هَذَا هَكَذَا وَلَا لِشَيْءٍ لَمْ أَصْنَعْهُ لِمَ لَمْ تَصْنَعْ هَذَا هَكَذَا

د انس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړو نو ابوطلحه ؓ ځما لاس اونیوو او د حضرت ﷺ خواله ئے بوتلم او عرض ئے اوکړو یا رسول الله ! انس هوښیار هلك دے دے به ستاسو خدمت کوی .انس وائی بیا به ما د حضرت ﷺ خدمت کولو په سفر کښې او حضر دواړو کښې. په الله ؓ قسم دے چه حضرت هیڅ یو څیز لره چه ما به اوکړو دا نه دی وئیلی چه دا د ولے اوکړو او کوم چه به مے او نه کړو د هغے دپاره ئے دا نه دی وئیلی چه دا د ولے او نه کړو

عَنْ أَنَسٍ قَالَ خَدَمْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعَ سِنِينَ فَمَا أَعْلَمُهُ قَالَ لِي قَطُّ لِمَ فَعَلْتَ كَذَا وَكَذَا وَلَا عَابَ عَلَيَّ شَيْئًا قَطُّ

د انس ؓ نه روایت دے وائی چه ما د نهو کالو پورے د رسول الله ﷺ خدمت کړے دے. زهٔ نهٔ یم خبر چه حضرت ﷺ چرته ما ته داسے وئیلی وی چه دا کار تا ولے اوکړو. او نهٔ ئے چرته په ما عیب وئیلے دے.

عَنْ أَنَسٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ خُلُقًا فَأَرْسَلَنِي يَوْمًا لِحَاجَةٍ فَقُلْتُ وَاللهِ لَا أَذْهَبُ وَفِي نَفْسِي أَنْ أَذْهَبَ لِمَا أَمَرَنِي بِهِ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجْتُ حَتَّى أَمُرَّ عَلَى صِبْيَانٍ وَهُمْ يَلْعَبُونَ فِي السُّوقِ فَإِذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَبَضَ بِقَفَايَ مِنْ وَرَائِي قَالَ فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقَالَ يَا أُنَيْسُ أَذَهَبْتَ حَيْثُ أَمَرْتُكَ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ أَنَا أَذْهَبُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَنَسٌ وَاللهِ لَقَدْ خَدَمْتُهُ تِسْعَ سِنِينَ مَا عَلِمْتُهُ قَالَ لِشَيْءٍ صَنَعْتُهُ لِمَ فَعَلْتَ

د انس ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د ټولو خلقو نه زیات د ښهٔ خوئ خاوند وو. یوه ورځ حضرت ﷺ ماته په یو کار باندے د تلو دپاره اووے. ما اووے په الله ؓ قسم دے زهٔ نهٔ ځم. لیکن په زړهٔ کښې مے داوه چه ځم (د هلکوالی د قاعدے په بنا ما په ظاهره انکار اوکړو) د کوم کار دپاره چه تاسو حکم کوئ. آخر زهٔ رااووتم تر دے پورے چه ما ته هلکان میلاؤ شو چه په بازار کښې ئے لوبے کولے. ناڅاپه رسول الله ﷺ د روستو نه راغے او ځما څټ ئے اونیو. ما د حضرت ﷺ طرفته اوکتل. حضرت ﷺ خندل او اوئے فرمائیل اے اُنیس (دا د انس تصغیر دے د مینے نه او اوئے فرمائیل) ته هلته لاړے چرته چه در ته ما حکم کړے وو. ما عرض اوکړو ښه ده جی ځم یا رسول الله ﷺ ! انس وائی په الله قسم دے ما د نهو کالو پورے د حضرت ﷺ خدمت کړے دے ما ته یاد نهٔ دی چه د څهٔ کار دپاره کوم چه ما کړے وی. حضرت ﷺ ما ته دا

كذا وكذا أو لشيء تركته هلّا فعلت كذا وكذا

فرمائیلي وی چه تا داسې ولې اوکړل یا یو کار ما نۀ وی کړے او حضرت ﷺ فرمائیلي وی ولې د او نۀ کړو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أحسن النّاسِ خُلُقًا

د انس بن مالك نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د ټولو خلقو نه زیات ښۀ خوئی لرلو.

بَاب فِي سَخَائِهِ ﷺ

باب : د رسول الله ﷺ د سخاوت بیان

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ مَا سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ فَقَالَ لَا

د جابر بن عبد الله نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ نه چه چاځیز غوښتلے دے. نو هغوی نه نۀ دی فرمائیلی (بلکه ورکړے ئے دے)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ مِثْلَهُ سَوَاءً

د جابر بن عبد الله نه بالکل د پورتنی حدیث پشان روایت دے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْإِسْلَامِ شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ قَالَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَأَعْطَاهُ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ فَرَجَعَ إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ أَسْلِمُوا فَإِنَّ مُحَمَّدًا يُعْطِي عَطَاءً لَا يَخْشَى الْفَاقَةَ

د انس نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ نه د اسلام په واسطه د یو ځیز سوال داسې نۀ دے شوے چه هغه حضرت ﷺ ورکړے نۀ وی یو سړے د حضرت ﷺ خواله راغې. حضرت ﷺ هغۀ ته د دوو غرونو په مینځ کښې بزې ورکړې (یعنې دومره بزې وې چه د دوه غرونو په مینځ کښې چه څومره ځائے وو هغه ترې ډک وو.) هغه واپس د خپل قوم خواله لاړو او اوئې وئیل چه اے زما د قوم خلقو مسلمانان شئ ځکه چه محمد ﷺ دومره څۀ ورکوی چه بیا د محتاجئ یره نۀ پاتې کیږی[1]

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ فَأَتَى قَوْمَهُ فَقَالَ أَيْ قَوْمِ أَسْلِمُوا فَوَاللهِ إِنَّ

د انس نه روایت دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه د دوارو غرونو په مینځ کښې بزې اوغوښتلې. حضرت ﷺ هغۀ ته ورکړې. هغه د خپل قوم خواله راغې او اوئې وئیل اے خلقو مسلمانان شئ په الله

[1] . امام نووی وئیلی دی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه د تالیف قلوب دپاره ورکول پکار دی. او مسلمانانو ته د تالیف قلوب دپاره په ورکولو کښې اختلاف نشته دے. لیکن د زکوٰة مال هغوی ته په ورکولو کښې اختلاف دے. صحیح داده چه د زکوٰة او بیت المال نه هغوی له ورکول صحیح دی. او کافرانو لره د تالیف قلوب دپاره د زکوٰة نه او نورو مالونو نه ورکول صحیح نۀ دی. ځکه چه اوس الله تعالی عزت ورکړے دے اسلام لره. کافرانو سره د میلاویدو ضرورت نۀ دے پاتې. او خنو سوا د زکوٰة نه د نورو مالونو نه هغوی ته ورکول صحیح کړی دی. انتهی

مُحَمَّدًا لَيُعْطِي عَطَاءً مَا يَخَافُ الْفَقْرَ فَقَالَ أَنَسٌ إِنْ كَانَ الرَّجُلُ لَيُسْلِمُ مَا يُرِيدُ إِلاَّ الدُّنْيَا فَمَا يُسْلِمُ حَتَّى يَكُونَ الإِسْلاَمُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا

قسم دے چه محمد دومره څۀ ورکوی چه د محتاجئ یره نۀ پاتے کیږی. انس وائی د یو سړی مسلمانیدل محض ددنیا دپاره پس هغه مسلمان نۀ وو تردے پورے چه اسلام به د هغوی په نزد د ټولے دنیا نه زیات محبوب نۀ شو[1].

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ غَزَا رَسُولُ اللهِ ﷺ غَزْوَةَ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَاقْتَتَلُوا بِحُنَيْنٍ فَنَصَرَ اللهُ دِينَهُ وَالْمُسْلِمِينَ وَأَعْطَى رَسُولُ اللهِ ﷺ يَوْمَئِذٍ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ مِائَةً مِنَ النَّعَمِ ثُمَّ مِائَةً ثُمَّ مِائَةً قَالَ ابْنُ شِهَابٍ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ صَفْوَانَ قَالَ وَاللهِ لَقَدْ أَعْطَانِي رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا أَعْطَانِي وَإِنَّهُ لأَبْغَضُ النَّاسِ إِلَيَّ فَمَا بَرِحَ يُعْطِينِي حَتَّى إِنَّهُ لأَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ

د ابن شهاب نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د مکے د فتح کولو جهاد اوکړو. بیا حضرت ﷺ د ټولو مسلمانانو سره چه د حضرت ﷺ سره راوتلی وو هغوی په حنین کښ اوجنګیدو. الله تعالی د خپل دین او د مسلمانانو مدد اوکړو. په دغه ورځ رسول الله ﷺ صفوان بن امیه ته سل اوښان ورکړل. صفوان وائی په الله قسم دے رسول الله ﷺ راکول ما ته چه څۀ ئے راکول. او حضرت ﷺ ځما په نظر کښ د ټولو خلقو نه زیات بد وو. حضرت ﷺ به همیشه ما ته راکړه کوله. تردے پورے چه د ټولو خلقو نه زیات ځما په نظر کښ محبوب شو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ وَزَادَ أَحَدُهُمَا عَلَى الآخَرِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ قَدْ جَاءَنَا مَالُ الْبَحْرَيْنِ لَقَدْ أَعْطَيْتُكَ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا وَقَالَ بِيَدَيْهِ جَمِيعًا فَقُبِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يَجِيءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ فَقَدِمَ عَلَى أَبِي بَكْرٍ بَعْدَهُ فَأَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادَى مَنْ كَانَتْ لَهُ

د جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کچرے مونږ ته د بحرین مال راغے (بحرین د یو ښار نوم دے) نو زۀ به تاله دومره درکړم او دومره او دومره. او په دواړو لاسونو سره ئے اشاره اوکړه (یعنی درے لپے ئے بیا بیا جوړے کړے) بیا حضرت ﷺ وفات شو د بحرین د مال راتلو نه مخکښ. د حضرت نه پس هغه مال د ابوبکر صدیق لاس له راغے. هغوی یو آواز کونکی ته د آواز کولو دپاره حکم اوکړو. چه د چا سره حضرت ﷺ څۀ وعده کړے وی یا ئے په

[1] په خنو نسخو کښ د فَمَا يُسْلِمُ په بدله کښ فَمَا يُمْسِي دے. یعنی یوه شپه به هم تیره شوے نۀ وه چه هغه به د حضرت ﷺ د صحبت په وجه سره صحیح مسلمان شوے وو. او د اسلام په نزد به ددنیا وما فیها نه زیات غوره شوے وو.

عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِدَةٌ أَوْ دَيْنٌ فَلْيَأْتِ فَقُمْتُ فَقُلْتُ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ قَدْ جَاءَنَا مَالُ الْبَحْرَيْنِ أَعْطَيْتُكَ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا فَحَثَى أَبُو بَكْرٍ مَرَّةً ثُمَّ قَالَ لِي عُدَّهَا فَعَدَدْتُهَا فَإِذَا هِيَ خَمْسُ مِائَةٍ فَقَالَ خُذْ مِثْلَيْهَا

حضرت ﷺ باندے څۀ قرض وی نو هغه د راشی. ددے په اوریدو زۀ اودریدم او ما اووے رسول الله ﷺ خما سره وعده کړے وه چه د بحرین مال راشی نو تاله به دومره درکړم او دومره او دومره ددے په اوریدو ابوبکر صدیق یوه لپه ډکه ماته راکړه او راته ئے اووے دا شمار کړه. ما چه شمار کړے نو هغه پنځۀ سوه شوے. ابوبکرؓ اووے ددے دومره نورے واخله (نو درے لپے شوے)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَمَّا مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ أَبَا بَكْرٍ مَالٌ مِنْ قِبَلِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَضْرَمِيِّ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ أَوْ كَانَتْ لَهُ قِبَلَهُ عِدَةٌ فَلْيَأْتِنَا بِنَحْوِ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ

جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه هر کله د رسول الله ﷺ وفات اوشو او ابوبکرؓ خلیفه شو نو هغوی ته د علاء بن حضرمی د طرف نه مال راغلے. نو ابوبکرؓ اعلان اوکړو د چا چه په نبی ﷺ باندے قرض وی یا د هغۀ سره د حضور وعده وی. هغه دِ زمونږ خواله راشی (مخکښنی مضمون) د ابن عیینه د حدیث پشان دے.

بَابُ رَحْمَتِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصِّبْيَانَ وَالْعِيَالَ وَتَوَاضُعِهِ وَفَضْلِ ذٰلِكَ

باب: د حضرت ﷺ د شفقت بیان چه د حضرت ﷺ په ماشومانو باندے وو او د هغے فضیلت

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُلِدَ لِي اللَّيْلَةَ غُلَامٌ فَسَمَّيْتُهُ بِاسْمِ أَبِي إِبْرَاهِيمَ ثُمَّ دَفَعَهُ إِلَى أُمِّ سَيْفٍ امْرَأَةِ قَيْنٍ يُقَالُ لَهُ أَبُو سَيْفٍ فَانْطَلَقَ يَأْتِيهِ وَاتَّبَعْتُهُ فَانْتَهَيْنَا إِلَى أَبِي سَيْفٍ وَهُوَ يَنْفُخُ بِكِيرِهِ قَدِ امْتَلَأَ الْبَيْتُ دُخَانًا فَأَسْرَعْتُ الْمَشْيَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا أَبَا سَيْفٍ أَمْسِكْ جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمْسَكَ فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د شپے خما یو هلك پیدا شو چه د هغۀ نوم ما د خپل پلار ابرهیم په نوم کیښودو. بیا حضرت ﷺ هغه هلك اُمّ سیف ته ورکړو چه د لوهار ښځه وه. او د لوهار نوم ابوسیف وو. حضرت ﷺ یوه ورځ د ابوسیف خواله لاړو او زۀ هم ورسره لاړم هر کله چه د ابوسیف کورته اورسیدو نو هغه خپله بټۍ پوکله او ټول کور د لوګی نه ډك شوے وو. زۀ د حضرت ﷺ نه مخکښ شوم منډے مے کړے او ابوسیف ته مے اووے لږ صبر اوکړه (بټۍ مۀ وهه) رسول الله ﷺ تشریف راوړے دے. هغه اودریدو. او حضرت ﷺ بچے راواوغوښتو او د خان سره ئے جوښت کړو او څۀ چه الله ته منظوره وه هغه ئے اووئیل

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّبِيِّ فَضَمَّهُ إِلَيْهِ وَقَالَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُولَ فَقَالَ أَنَسٌ لَقَدْ رَأَيْتُهُ وَهُوَ يَكِيدُ بِنَفْسِهِ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَمَعَتْ عَيْنَا رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تَدْمَعُ الْعَيْنُ وَيَحْزَنُ الْقَلْبُ وَلَا نَقُولُ إِلَّا مَا يَرْضَى رَبُّنَا وَاللهِ يَا إِبْرَاهِيمُ إِنَّا بِكَ لَمَحْزُونُونَ

انس وائی ما هغه بچی اولیدو چه هغه ساه ورکولو د رسول الله ﷺ په مخکښې دده په لیدو سره د حضرت ﷺ د سترګو نه اوښکې اوبهیدے او اوئے فرمائیل سترګے ژاړی او زړهٔ غم کوی لیکن په ژبه سره مونږ څهٔ نهٔ شو وئیلے مګر هغه څهٔ چه الله پرے رضا کیږی چه رب زمونږ دے (یعنی د هغهٔ تعریف کوو او د صبر دُعا ترے غواړو) په الله قسم دے اے ابرهیم چه مونږ پتا باندے خامخا غمژن یو[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا كَانَ أَرْحَمَ بِالْعِيَالِ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ إِبْرَاهِيمُ مُسْتَرْضِعًا لَهُ فِي عَوَالِي الْمَدِينَةِ فَكَانَ يَنْطَلِقُ وَنَحْنُ مَعَهُ فَيَدْخُلُ الْبَيْتَ وَإِنَّهُ لَيُدَّخَنُ وَكَانَ ظِئْرُهُ قَيْنًا فَيَأْخُذُهُ فَيُقَبِّلُهُ ثُمَّ يَرْجِعُ قَالَ عَمْرٌو فَلَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيمُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ ابْنِي وَإِنَّهُ مَاتَ فِي الثَّدْيِ وَإِنَّ لَهُ لَظِئْرَيْنِ تُكَمِّلَانِ رَضَاعَهُ فِي الْجَنَّةِ

د انس بن مالک نه روایت دے وائی چه ما هیڅوک په بال بچ باندے دومره شفقت کونکے نهٔ دے لیدلے څومره چه رسول الله ﷺ به شفقت کولو. د حضرت ﷺ خوئ حضرت ابراهیم به یئ ځنبل د مدینے په عوالی کښې (عوالی د مدینے په خوا کښې څهٔ کلی وو) پس حضرت ﷺ به روانشو او مونږ به ورسره وو. پس د دایئ کورته به داخل شو هلته به لوګے وو ولے چه د دایئ خاوند لوهار وو. حضرت ﷺ به بچے واخستو او مینه به ئے ورسره اوکړه نو بیا به واپس راغلو. عمرو بن سعید وائی هر کله چه ابراهیم وفات شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل. ابراهیم زما بچے دے. دهٔ په پیو ځنبلو کښې ساه ورکړه. اوس دهٔ ته دوه دایانے میلاؤ شوے دی چه هغه به په جنت کښې دهٔ د پیو خوړلو د مودے پورے په دهٔ باندے پیئ خوری

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَدِمَ نَاسٌ مِنَ الْأَعْرَابِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا أَتُقَبِّلُونَ صِبْيَانَكُمْ فَقَالُوا نَعَمْ فَقَالُوا

د مومنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے وائی چه څهٔ خلق د باندے د رسول الله ﷺ خواله راغلل. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل. تاسو د خپلو بچو سره مینه کوئ. هغوی

---

[1] معلومه شوه چه د اولاد په مرګ پیغمبرانو ته هم صدمه رسیږی. ولے چه هغه بشر دے. او دا هم معلومه شوه چه په قلاره ژړل او غم کول منع نهٔ دی

لٰكِنَّا وَاللهِ مَا نُقَبِّلُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَأَمْلِكُ إِنْ كَانَ اللهُ نَزَعَ مِنْكُمُ الرَّحْمَةَ وَ قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ مِنْ قَلْبِكَ الرَّحْمَةَ

اووے آو. بیائے اووے په الله قسم دے چه مونږ خو مینه نۀ کوو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل . زۀ څۀ اوکړم الله تعالی ستاسو د زړونو نه رحم ویستلے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ الْأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ أَبْصَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ الْحَسَنَ فَقَالَ إِنَّ لِي عَشَرَةً مِنَ الْوَلَدِ مَا قَبَّلْتُ وَاحِدًا مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ مَنْ لَا يَرْحَمْ لَا يُرْحَمْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه قرع بن حابس رسول الله ﷺ لره په مینه کولو د امام حسنؓ سره اولیدۀ. نو اوئے وئیل یا رسول اللهؐ! څما لس بچی دی ما په هغوی کښې د یو سره هم مینه نۀ ده کړے. حضرت ﷺ اوفرمائیل. څوك چه رحم نۀ کوی (په بچو او عاجزانو ضعیفانو) الله هم په هغۀ رحم نۀ کوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

ابوهریرهؓ د رسول الله ﷺ د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے.

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَا يَرْحَمِ النَّاسَ لَا يَرْحَمْهُ اللهُ

د جریر بن عبداللهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. څوك چه په بندیګانو باندے رحم نۀ کوی اللهؐ په هغۀ باندے رحم نۀ کوی.

عَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ الْأَعْمَشِ

د جریرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د حدیث د اعمش پشان.

بَابُ كَثْرَةِ حَيَائِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب : د حضرت ﷺ د حيا او د شرم بیان

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا وَكَانَ إِذَا كَرِهَ شَيْئًا عَرَفْنَاهُ فِي وَجْهِهِ

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے وائی چه په رسول الله ﷺ کښې د هغۀ ناواده شوے جینئ نه چه په پرده کښې اوسیږی هم زیات شرم وو. او حضرت ﷺ چه به هر کله یو څیز لره بد ګڼړلو نو مونږ به د هغے نخښے د حضرت ﷺ په مخ مبارك کښې پیژندے[1].

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو حِينَ قَدِمَ مُعَاوِيَةُ إِلَى الْكُوفَةِ فَذَكَرَ رَسُولَ اللهِ

د مسروق نه روایت دے وائی چه مونږ د عبد الله بن عمرو خواله لاړو هر کله چه معاويهؓ کوفے ته راغے. هغوی ذکر اوکړو د رسول

[1] لیکن د حیاء په وجه به حضرت ﷺ په ژبه سره بد نۀ وئیل. دا هغه حیاء ده چه د اخلاق حسنۀ نه ده. او کوم چه د ایمان جُز دے.

ﷺ فَقَالَ لَمْ يَكُنْ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا وَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقًا قَالَ عُثْمَانُ حِينَ قَدِمَ مَعَ مُعَاوِيَةَ إِلَى الْكُوفَةِ عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

الله ﷺ نو اوئے ونیل . حضرت ﷺ بد زبانه نهٔ وو او نهٔ ئې بد زباني کوله او اوئے ونیل چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي پتاسو کښې بهتر هغه خلق دی د چا چه اخلاق ښهٔ وي[1]

د اعمش نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

بَابُ تَبَسُّمِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحُسْنِ عِشْرَتِهِ

باب : د حضرت ﷺ د خندا او د حُسنِ معاشرت بيان

عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ قُلْتُ لِجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ أَكُنْتَ تُجَالِسُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ كَثِيرًا كَانَ لَا يَقُومُ مِنْ مُصَلَّاهُ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ الصُّبْحَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتْ قَامَ وَكَانُوا يَتَحَدَّثُونَ فَيَأْخُذُونَ فِي أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ فَيَضْحَكُونَ وَيَتَبَسَّمُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د سماك بن حرب نه روایت دے وائي چه ما جابر بن سمرة ته اووے تاسو به د رسول الله ﷺ سره ناسته کوله هغوی اووے آو. ډیره ناسته به مے ورسره کوله . حضرت ﷺ چه به چرته د سحر مونځ اوکړو د هغه ځائے نه به نهٔ پاسیدو د نمر راختو پورے (او ذکر الٰهی به ئے کولو دا سنت دی او د سلفو او اهل علمو معمول دے) او هر کله چه به نمر رااوختو نو بیا به پاځیدو. نورو خلقو به خبرے کولے او د جاهلیت د کارونو ذکر به ئے کوو او خندل به ئے او حضرت ﷺ به تبسم فرمائیلو (یعنی نرئ خنداه به ئے بغیر د آواز ویستو نه کوله)

بَابُ رَحْمَتِهِ ﷺ لِلنِّسَاءِ وَأَمْرِهِ بِالرِّفْقِ بِهِنَّ

باب : د حضرت ﷺ په ښځو باندے د رحم کولو بيان

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ وَغُلَامٌ أَسْوَدُ

د انس رضی الله عنه نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ په سفر کښې وو او یو حبشي غلام چه د هغهٔ نوم انجشه وو ، سندره به ئے ونیله

---

[1] ښکلي اخلاق صفت د انبیاؤ دے او د اولیاؤ دے. حسن بصري وائي ښکلي اخلاق څهٔ دي، سلوك کول، چاته ضرر نهٔ رسول ، ، روږتندی د خلقو سره میلاویدل قاضي عیاض وائي ښکلي اخلاق دا دي چه د خلقو سره په ښه طریقه میلاوېږي محبت ورسره ساتي. او په هغوی باندے شفقت کوي. او کچرے څوك ورته سخته خبره اوکړي نو تحمل کوي. او په مصیبت باندے صبر کوي. کبر او غرور نهٔ کوي زبان درازي نهٔ کوي. مواخذه او غضب لره پرېږدي. طبراني وائي د سلفو اختلاف دے حُسن خلق خلقي دے کهٔ په کټه سره کیږي. قاضي عیاض وائي صحیح داده چه څنے صفات د هغے خلقي دي او څنے په کسب سره حاصلیږي. انتهی

يُقَالُ لَهُ أَنْجَشَةُ يَحْدُو فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَا أَنْجَشَةُ رُوَيْدَكَ سَوْقًا بِالْقَوَارِيرِ

حضرت ﷺ اوفرمائيل اے انجشه! په قلاره قلاره ځه او اوښانو لره د شیشو بار اوښانو پشان شره [1]

عَنْ أَنَسٍ بِنَحْوِهِ

د انس رضی الله عنه نه د دے پشان روایت دے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى عَلَى أَزْوَاجِهِ وَسَوَّاقٌ يَسُوقُ بِهِنَّ يُقَالُ لَهُ أَنْجَشَةُ فَقَالَ وَيْحَكَ يَا أَنْجَشَةُ رُوَيْدًا سَوْقَكَ بِالْقَوَارِيرِ قَالَ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ تَكَلَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَلِمَةٍ لَوْ تَكَلَّمَ بِهَا بَعْضُكُمْ لَعِبْتُمُوهَا عَلَيْهِ

د انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو خواله راغے. او یو شړونکی د هغوی اوښانو لره شړلو چه د هغه نوم انجشه وو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل. خرابی د وی ستا لاس لره اے انجشه په قلاره بوځه شیشو لره (یعنی ښځے نړدے وے په دے وجه ئے شیشے اوفرمائیلے) ابو قلابه وائی رسول الله ﷺ داسے خبره اوفرمائیله چه کچرے په تاسو کښں څوک داسے خبره اوکړی نو تاسو به لوبه اوګرځوئ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ مَعَ نِسَاءِ النَّبِيِّ ﷺ وَهُنَّ يَسُوقُ بِهِنَّ سَوَّاقٌ فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ أَيْ أَنْجَشَةُ رُوَيْدًا سَوْقَكَ بِالْقَوَارِيرِ

د انس رضی الله عنه نه روایت دے د رسول الله ﷺ یو وصف کونکے خوش آوازه وو (چه هغه به د اوښانو شړلو په وخت سندره وئیله) حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل په قلاره ځه اے انجشه مۀ ماتوه شیشو لره.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَادٍ حَسَنُ الصَّوْتِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُوَيْدًا يَا أَنْجَشَةُ لَا تَكْسِرِ الْقَوَارِيرَ يَعْنِي ضَعَفَةَ النِّسَاءِ

د انس رضی الله عنه نه روایت دے د رسول الله ﷺ یو سندرے والا خوش آواز وو (چه د اوښانو د شړلو په وخت به ئے سندره وئیله) حضرت ﷺ هغۀ ته اوفرمائیل په مزه ځه اے انجشه مۀ ماتوه شیشو لره یعنی کمزورو خلقو لره تکلیف مۀ ورکوه.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْ حَادٍ حَسَنُ الصَّوْتِ

انس رضی الله عنه د نبی ﷺ نه د حدیث روایت اوکړو مګر په دے کښں دا نشته "شړلو والا خوش آوازه".

بَابُ قُرْبِهِ ﷺ مِنَ النَّاسِ وَتَبَرُّكِهِمْ بِهِ

باب: د حضرت ﷺ د خلقو سره معامله او د

[1] دا غلام خوش آوازه وو او دستور دے چه اوښں په سرور سره مست کیږی او زر زر ځی ښځو ته تکلیف کیږی په دے وجه حضرت ﷺ دا حدیث اوفرمائیلو او ځنے ددے حدیث نه دا مطلب اخلی چه هغه خوش آوازه غلام عشقیه اشعار لوستلو حضرت ﷺ او یریدو چه هسے نه چه د ښځو په زړونو څۀ اثر اوکړی او د زړۀ شیشے ئے ماتے شی. نووی وائی په عربو کښں متل دے اَلْغِنَاءُ رُقْيَةُ الزِّنَاءِ یعنی سرور د زنا منتر دے

وَتَوَاضُعِهِ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الْغَدَاةَ جَاءَ خَدَمُ الْمَدِينَةِ بِآنِيَتِهِمْ فِيهَا الْمَاءُ فَمَا يُؤْتَى بِإِنَاءٍ إِلاَّ غَمَسَ يَدَهُ فِيهَا فَرُبَّمَا جَاءُوهُ فِي الْغَدَاةِ الْبَارِدَةِ فَيَغْمِسُ يَدَهُ فِيهَا

عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْحَلاَّقُ يَحْلِقُهُ وَأَطَافَ بِهِ أَصْحَابُهُ فَمَا يُرِيدُونَ أَنْ تَقَعَ شَعْرَةٌ إِلاَّ فِي يَدِ رَجُلٍ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ امْرَأَةً كَانَ فِي عَقْلِهَا شَيْءٌ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً فَقَالَ يَا أُمَّ فُلاَنٍ انْظُرِي أَيَّ السِّكَكِ شِئْتِ حَتَّى أَقْضِيَ لَكِ حَاجَتَكِ فَخَلاَ مَعَهَا فِي بَعْضِ الطُّرُقِ حَتَّى فَرَغَتْ مِنْ حَاجَتِهَا

حضرت ﷺ عاجزی

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ چه به د سحر مونځ اوکړو نو د مدینے خادم به په خپلو لوښو کښې اوبه راوړے پس کوم لوښے چه به ئے د حضرت ﷺ خواله راوړو حضرت ﷺ به خپل لاس په هغے کښې ډوب کړو او کله چه به د یخنئ په ورځ هم اتفاق راغے نو حضرت ﷺ به پکښې خپل لاس مبارك ډوبولو[1].

د انس رضی الله عنه نه روایت دے ما اولیدو چه حجام د رسول الله ﷺ د سرو ویښتهٔ خرئیل او صحابوٴ رضی الله عنهم د حضرت ﷺ نه چاپیره وو. هغوی غوښتل چه یو ویښتهٔ په زمکه باندے ارتاؤ نهٔ شی د یو نه یو په لاس کښې ارتاؤ شی[2].

د انس رضی الله عنه نه روایت دے چه د یوے ښځے په عقل کښې فتور وو (دماغی تکلیف) هغے عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ځما ستاسو سره کار دے (یعنی څهٔ وئیل دی چه د خلقو په مخکښې ئے نهٔ شم وئیلے) حضرت ﷺ اوفرمائیل اے د فلانی مور! (یعنی د هغهٔ نوم ئے واخستو) ښه ده څهٔ لار اوګوره زهٔ به ستا کار اوکړم بیا حضرت ﷺ په لاره کښې د هغے سره ځانله اودریدو تر دے پورے چه هغه د خپل کار نه فارغ شو[3].

بَاب تَرْكِ الاِنْتِقَامِ اِلاَّ لِلّٰهِ تَعَالٰى

باب: حضرت ﷺ به انتقام نهٔ اخستهٔ مګر د الله دپاره

---

[1] د برکت دپاره دا اوبهٔ به خلقو څښلے یا به ئے په بیمارانو باندے څښولے دشفا دپاره.

[2] نووی وائی دد ے حدیث نه معلومه شوه چه د آثار الصالحین نه برکت اخستل صحیح دی او صحابوٴ به د حضرت ﷺ د اثار شریفه نه برکت اخستلو په دیے کښې څهٔ شك نشته چه د انبیاؤ او صالحینو آثار متبرك دی او د هغے نه برکت اخستل صحیح دی خو د جاهلانو په شان افراط او تفریط د نهٔ کوی او کومے خبرے چه بدعت یا شرك دی د هغے نه د خپل ځان بچ ساتی

[3] د انتهائی څهٔ خلوت نهٔ وو د پردی ښځے سره بلکه په لاره کښې حضرت ﷺ د سړك نه بیرته اودریدو او د هغے خبره ئے واوریده او جواب ئے ورکړو حاکم لره دغه شان لازم دی چه د هر یو رعیت دغه شان ملګرتیا او خیال اوساتی

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا فَإِنْ كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ وَمَا انْتَقَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ إِلَّا أَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ .

د مومنانو د مور حضرت عائشې صديقې نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ ته چه به هر كله د دوو كارونو اختيار وركړے شو نو حضرت ﷺ به آسان لره اختيار وو په دے شرط چه هغه به د ګناه نه وو. او كچرے د ګناه به وو نو حضرت ﷺ به د هر چا نه مخكښ د هغے نه لرے پاتے كيدو. او چرته هم حضرت ﷺ د خپل خان دپاره د چا نه بدله نۀ ده اخستے. مګر چا چه به د الله د حكم خلاف اوكړو نو هغۀ ته به ئے سزا وركوله

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكٍ

د ابن شهاب نه په دے سند سره د مالك د حديث په شان روايت دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ أَحَدُهُمَا أَيْسَرُ مِنَ الآخَرِ إِلَّا اخْتَارَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا فَإِنْ كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ

د مومنانو د مور حضرت عائشې نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ ته چه به هر كله په دوو كارونو كښ اختيار وركړے شو نو حضرت ﷺ به آسان كار لره اختيار وو كچرے هغه به د ګناه نۀ وو او كچرے د ګناه به وو نو د هر چا نه به ترے حضرت ﷺ لرے اوسيدو.

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ إِلَى قَوْلِهِ أَيْسَرَهُمَا وَلَمْ يَذْكُرَا مَا بَعْدَهُ

د هشام نه په دے اسناد سره روايت دے أَيْسَرَهُمَا پورے او دد ے نه مخكښ بيان نشته

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ بِيَدِهِ وَلَا امْرَأَةً وَلَا خَادِمًا إِلَّا أَنْ يُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَمَا نِيلَ مِنْهُ شَيْءٌ قَطُّ فَيَنْتَقِمَ مِنْ صَاحِبِهِ إِلَّا أَنْ يُنْتَهَكَ شَيْءٌ مِنْ مَحَارِمِ اللهِ فَيَنْتَقِمَ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ چرته هم چا لره په خپل لاس سره نۀ دے وهلے. نۀ ښځے لره او نۀ خادم لره. مګر په جهاد كښ ئے د الله په لاره كښ وهلى دى. او حضرت ﷺ ته چه به چرته چا نقصان اورسوو د هغے بدل به ئے نۀ اخستو مګر چا چه به د الله په حكم كښ خلل غورځوو نو د الله دپاره به ئے بدله اخسته (يعنى په شرعى حدونو كښ لكه په غلا كښ لاس كټ كول او په زنا كښ كوړے لګول يا سنګسارول شو.

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ يَزِيدُ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ

هشام په دے اسناد سره روايت كړے او دد ے حديث بعض راويانو د بعضو نه زيات روايت كړو.

بَاب طِيبِ رِيحِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِينِ مَسِّهِ

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْأُولَى ثُمَّ خَرَجَ إِلَى أَهْلِهِ وَخَرَجْتُ مَعَهُ فَاسْتَقْبَلَهُ وِلْدَانٌ فَجَعَلَ يَمْسَحُ خَدَّيْ أَحَدِهِمْ وَاحِدًا وَاحِدًا قَالَ وَأَمَّا أَنَا فَمَسَحَ خَدِّي قَالَ فَوَجَدْتُ لِيَدِهِ بَرْدًا أَوْ رِيحًا كَأَنَّمَا أَخْرَجَهَا مِنْ جُؤْنَةِ عَطَّارٍ

عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَنَسٌ مَا شَمِمْتُ عَنْبَرًا قَطُّ وَلَا مِسْكًا وَلَا شَيْئًا أَطْيَبَ مِنْ رِيحِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا مَسِسْتُ شَيْئًا قَطُّ دِيبَاجًا وَلَا حَرِيرًا أَلْيَنَ مَسًّا مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَزْهَرَ اللَّوْنِ كَأَنَّ عَرَقَهُ اللُّؤْلُؤُ إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ وَلَا مَسِسْتُ دِيبَاجَةً وَلَا حَرِيرَةً أَلْيَنَ مِنْ كَفِّ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا شَمِمْتُ مِسْكَةً وَلَا عَنْبَرَةً أَطْيَبَ مِنْ رَائِحَةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب: د حضرتﷺ د بدن خوشبو او د نرمۍ بيان

د جابر بن سمرهؓ نه روايت دے وائی چه ما د رسول اللهﷺ سره د ماسپخين مونځ اوکړو. بيا حضرتﷺ خپل کورته د تلو دپاره راووتو. زۀ هم د حضرتﷺ سره راووتم مخې ته ځو بچي راغلل. حضرتﷺ د هر يو بچي په مخ باندے لاس راښکودو. او ځمائے هم په مخ باندے لاس راښکودو. ما د حضرتﷺ په لاس کښې هغه يخ والے او خوشبوئی بيا موتله لکه چه د عطر جوړونکی د ډبی نه چه ئے لاس راويستلے وی.[1]

انسؓ وائی ما د مشکو يا د عنبرو يا د بل يو څيز خوشبوئی داسے نۀ ده ليدلے لکه څنګه چه د رسول اللهﷺ د جسم مبارك خوشبوئی وه. او ما نۀ د ديباج او نۀ د جرير او نۀ د بل څۀ څيز داسے نرمی مسه کړے ده. لکه څنګه نرمی چه د رسول اللهﷺ په مبارك بدن کښې وه.

د انسؓ نه روايت دے د رسول اللهﷺ مبارك رنګ سپين پرقيدلے وو (نووی وائی دا رنګ په ټولو رنګونو کښې مزيدار دے) او د حضرتﷺ خوله مبارکه د لعلونو پشان وه. او هر کله چه به روان وو نو مخکښې طرفته به ئے ښکته زور ورکولو (يعنی آخوا ديخوا په خکته کيدو به روان وو لکه څنګه چه کشتئ روانه وی. ازهری وائی دا معنی غلطه ده. ځکه چه دا د مغرور صفت دے. قاضی عياضؒ وائی د مغرور صفت هله دے چه مصنوعی وی او کچرے خلقو وی نو مذموم نۀ دی) او ما ديباج او حرير هم دومره نرم نۀ دی موندلی. لکه چه

---

[1] نوویؒ وائی دا خوشبوئی د حضرتﷺ د بدن ذاتی وه اگر کۀ حضرت خوشبوئی به او نۀ لګوله هم. او په دے دپاسه به حضرتﷺ خوشبوئی هم لګوله د زيات معطر کولو دپاره. د دے دپاره چه ملائکے خوشحاله وی.

د حضرت ﷺ ورغوى چه څومره نرم وو. او ما په مشكو او عنبرو كښې دا خوشبوئي نه ده موندلى كومه چه د حضرت ﷺ په جسم مبارك كښې وه.

بَاب طِيبِ عَرَقِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالتَّبَرُّكِ بِهِ

باب : د حضرت ﷺ د خولې خوشبويه او متبرك كيدل

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ دَخَلَ عَلَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عِنْدَنَا فَعَرِقَ وَجَاءَتْ أُمِّي بِقَارُورَةٍ فَجَعَلَتْ تَسْلِتُ الْعَرَقَ فِيهَا فَاسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَا هَذَا الَّذِي تَصْنَعِينَ قَالَتْ هَذَا عَرَقُكَ نَجْعَلُهُ فِي طِيبِنَا وَهُوَ مِنْ أَطْيَبِ الطِّيبِ

د انس بن مالك نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ زمونږ كورته راغے. او آرام ئے اوفرمائيلو. په حضرت ﷺ خوله راغله څما مور يوه شيشه راؤړه او د حضرت ﷺ نه ئے خوله راغونډوله او په هغے كښې ئے اچوله. پس حضرت ﷺ بيدار شو او اوئے فرمائيل. اے أمّ سليم! دا څۀ كوى هغے اووے دا ستاسو خوله ده. چه مونږ ئے د خپلے خوشبويۍ سره شريكوؤ. او هغه د ټولو خوشبويونه زياته پخپله خوشبويه ده.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ بَيْتَ أُمِّ سُلَيْمٍ فَيَنَامُ عَلَى فِرَاشِهَا وَلَيْسَتْ فِيهِ قَالَ فَجَاءَ ذَاتَ يَوْمٍ فَنَامَ عَلَى فِرَاشِهَا فَأُتِيَتْ فَقِيلَ لَهَا هَذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَامَ فِي بَيْتِكِ عَلَى فِرَاشِكِ قَالَ فَجَاءَتْ وَقَدْ عَرِقَ وَاسْتَنْقَعَ عَرَقُهُ عَلَى قِطْعَةِ أَدِيمٍ عَلَى الْفِرَاشِ فَفَتَحَتْ عَتِيدَتَهَا فَجَعَلَتْ تُنَشِّفُ ذَلِكَ الْعَرَقَ فَتَعْصِرُهُ فِي قَوَارِيرِهَا فَفَزِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا تَصْنَعِينَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ نَرْجُو بَرَكَتَهُ لِصِبْيَانِنَا قَالَ أَصَبْتِ

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به د أمّ سليم كورته تلو او د هغے په بستره باندے به اوده كيدلو او هغه به هلته نۀ وه. يوه ورځ حضرت ﷺ تشريف راوړو او د هغے په بستره باندے اوده شو. هغه چه راغله نو خلقو ورته اووے چه رسول الله ﷺ ستا په كور كښې ستاسو په بستره باندے اوده دے. ددے په اوريدو هغه راغله څۀ گورى چه په حضرت ﷺ خوله راغلې ده او د څرمے په يوه بستره باندے جمع شوے ده. ام سليم خپله ډبه كهولاؤ كړه او دغه خوله ئے اوچوله او شيشے ئے ترے ډكولے. رسول الله ﷺ توپ كړو او پاڅيدو كيناستو او اوئے فرمائيل اے أم سليم دا څۀ كوے؟ هغوى اووے. يا رسول الله! دا مونږ د بركت دپاره اخلو د خپلو بچو دپاره. حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل تا ښۀ اوكړل (پورته تير شوے دى چه أمّ سليم د حضرت ﷺ محرمه وه. او د محرمے خواله تلل او هلته اوده

عَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْتِيهَا فَيَقِيلُ عِنْدَهَا فَتَبْسُطُ لَهُ نِطَعًا فَيَقِيلُ عَلَيْهِ وَكَانَ كَثِيرَ الْعَرَقِ فَكَانَتْ تَجْمَعُ عَرَقَهُ فَتَجْعَلُهُ فِي الطِّيبِ وَالْقَوَارِيرِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَا هَذَا قَالَتْ عَرَقُكَ أَدُوفُ بِهِ طِيبِي

کیدل صحیح دي)
د أمّ سلیم نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د هغوی خواله تشریف راوړو او آرام به ئے فرمائیلو هغې به د حضرت ﷺ دپاره یوه څرمن خوروله او حضرت ﷺ به د هغې دپاسه اوده کیدو. او په حضرت ﷺ به خوله ډیره راتله نو أمّ سلیم به د حضرت ﷺ خوله یو ځائے جمع کوله او په خوشبویو او په شیشو کښ به ئے میلاووله رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل. اے أمّ سلیم دا څهٔ کوے؟ هغوی اووے دا ستاسو خوله ده چه دے لره زهٔ په خوشبویئ کښ میلاووم.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنْ كَانَ لَيُنْزَلُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغَدَاةِ الْبَارِدَةِ ثُمَّ تَفِيضُ جَبْهَتُهُ عَرَقًا

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے وائی چه په رسول الله ﷺ چه به هر کله د یخنئ په ورځو کښ وحی نازلیده نو د هغوی د تندی نه به خولے بهیدلے. (د وحی د سختئ نه).

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْيُ فَقَالَ أَحْيَانًا يَأْتِينِي فِي مِثْلِ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ ثُمَّ يَفْصِمُ عَنِّي وَقَدْ وَعَيْتُهُ وَأَحْيَانًا مَلَكٌ فِي مِثْلِ صُورَةِ الرَّجُلِ فَأَعِي مَا يَقُولُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے چه حارث بن هشام د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه پتا وحی څنګه راځی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل کله خو داسے راځی لکه د جرس د ګړنګار هغه په ما باندے ډیره سخته وی بیا موقوفه شی. کله چه زهٔ یاده کړم هغے لره. او کله یوه فرښته راځی د بنیادم په شکل کښ او هغه چه څهٔ وائی زهٔ یادوم هغے لره.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ كُرِبَ لِذَلِكَ وَتَرَبَّدَ وَجْهُهُ

د عباده بن صامت نه روایت دے وائی چه په رسول الله ﷺ چه به هر کله وحی راتله نو په هغوی به سختی وه او د حضرت ﷺ د مخ مبارك رنګ به متغیره شو (او په بل روایت کښ دی چه د حضرت ﷺ د مخ مبارك رنګ به د وحی د نازلیدو په وخت سُور شو.
نووی وائی کیدے شی مراد د سور والی نه دغه دے چه د دشمنئ سره وی. او د تَرَبَّدَ هم دغه معنٰی وی یا مخکښ به تور شو. بیا به

سُور شو نو په دواړو روایتونو کښې څۀ مخالفت نشته دے

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ نَكَسَ رَأْسَهُ وَنَكَسَ أَصْحَابُهُ رُءُوسَهُمْ فَلَمَّا أُتْلِيَ عَنْهُ رَفَعَ رَأْسَهُ

د عباده بن صامتؓ نه روایت دے وائی چه په رسول اللهﷺ چه به هر کله وحی نازلیده نو حضرتﷺ به خپل سر مبارک ښکته کړو او د حضرتﷺ خپلو صحابو به هم سرونه ښکته کړل هر کله چه به وحی ختمه شوه نو حضرتﷺ به خپل سر مبارك اوچت کړو.

بَاب صِفَةِ شَعْرِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِفَاتِهِ وَحِلْيَتِهِ

باب : د حضرتﷺ د ویښتو صفت او د حضرتﷺ د حُلیے مبارکے بیان

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَسْدِلُونَ أَشْعَارَهُمْ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرُقُونَ رُءُوسَهُمْ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ بِهِ فَسَدَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاصِيَتَهُ ثُمَّ فَرَقَ بَعْدُ

د ابن عباسؓ نه روایت دے وائی چه اهل کتاب یعنی یهودو او نصاراؤ به خپل ویښته په تندی زوړند پریښودل (یعنی لیکه به ئے ورله په مینځ کښې نۀ ویسته) او مشرکانو به ویستله او رسول اللهﷺ به د اهل کتابو په طریقه باندے تلل خوښولو په کومه مسئله کښې چه به حضرتﷺ ته حکم نۀ وو شوے (یعنی په نسبت د مشریکانو اهل کتاب غوره دی نو په کوم باب کښې چه به حکم نۀ وو راغلے حضرتﷺ به په هغے باب کښې د اهل کتابو موافقت لره اختیار وو) نو حضرتﷺ به هم په تندی باندے ویختۀ زنګولو. دے نه پس به حضرتﷺ بیا لیکه ویستله[1].

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د ابن شهاب نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنِ الْبَرَاءِ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د براء بن عازبؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ میانه قد وو. د

---

[1] نوویؒ وائی علماؤ وئیلی دی چه لیکه ویستل سنت دی ولے چه دا د رسول اللهﷺ آخری فعل دے. او ظاهره داده چه حضرتﷺ دے لره په وحی سره اختیار کړے دے. قاضی عیاضؒ وائی اویزاندول د ویښتو په تندی باندے منسوخ دی اوس هغه جائز نۀ دی. او احتمال دے چه لیکه ویستل ئے په اجتهاد سره اختیار کړے وی نۀ په وحی سره حاصل داده چه اویزاندول هم جائز دی. او لیکه ویستل پکښې غوره دی او د اهل کتابو موافقت د تالیف قلوب دپاره وو په اول د اسلام کښې په مخالفت د مشرکانو هر کله چه الله تعالی اسلام غالب کړو او د هغے ضرورت پاتے نۀ شو نو د هغوی د خلاف حکم اوشو لکه چه د خضابو په باب کښې راغلی دی. او ځنے وائی چه حضرتﷺ ته حکم شوے وو د اهل کتابو په شریعت باندے د چلیدلو په کوم باب کښې چه به حضرتﷺ ته حکم نۀ وو راغلے انتهی مختصراً

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مَرْبُوعًا بَعِيدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ عَظِيمَ الْجُمَّةِ إِلَى شَحْمَةِ أُذُنَيْهِ عَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ مَا رَأَيْتُ شَيْئًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

حضرت ﷺ د دواړو مټو په مینځ کښې زیاته فاصله وه. (یعني سینه ئې پلنه وه) ویښتۀ ئې ګڼړ وو د غوږونو د پوسکو پورې. حضرت ﷺ به سرے جامې اغوستلے (یعني د سیکیا چه په هغې کښې به سرے او زیړے نخښې وے) او ما هیڅوك د حضرت ﷺ نه زیات ښائسته نۀ دے لیدلے

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ أَحْسَنَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَعْرُهُ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ بَعِيدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ قَالَ أَبُو كُرَيْبٍ لَهُ شَعَرٌ

د براء بن عازب نه روایت دے چه ما یو ویښتو والا سړے په سره جوړه کښې د رسول الله ﷺ نه زیات ښائسته نۀ دے لیدلے د حضرت ﷺ ویښتۀ د اوګې پورے رسیدلی وو. او د دواړو اوګو په مینځ کښې فاصله ئې نۀ ډیره اوږده وه او نۀ ډیره لنډه وه.

عَنِ الْبَرَاءِ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ وَجْهًا وَأَحْسَنَهُ خَلْقًا لَيْسَ بِالطَّوِيلِ الذَّاهِبِ وَلَا بِالْقَصِيرِ

د براء نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ مخ مبارك د هر چا نه زیات ښکلے وو او د حضرت ﷺ اخلاق د هر چا نه زیات ښکلی وو. او نۀ به ئې په تلو کښې ډیر اوږدۀ (قدمونه اخستل) او نۀ لنډ.

عَنْ قَتَادَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ كَيْفَ كَانَ شَعْرُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ كَانَ شَعْرًا رَجِلًا لَيْسَ بِالْجَعْدِ وَلَا السَّبِطِ بَيْنَ أُذُنَيْهِ وَعَاتِقِهِ

د قتادة نه روایت دے ما انس ته اووے چه د رسول الله ﷺ ویښتۀ څنګه وو. هغوی اووے درمیانه وو. نۀ ډیر ګوړګوتی وو او نۀ بالکل نیغ. د غوږونو او د اوګو د مینځه پورے وو.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ يَضْرِبُ شَعْرُهُ مَنْكِبَيْهِ

د انس نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ ویښتۀ مبارك تر دے د اوګو پورے وو.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ شَعْرُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ

د انس نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ ویښتۀ مبارك د غوږونو د نیمے پورے وو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَلِيعَ الْفَمِ أَشْكَلَ الْعَيْنِ مَنْهُوسَ الْعَقِبَيْنِ قَالَ قُلْتُ لِسِمَاكٍ مَا ضَلِيعُ الْفَمِ قَالَ

د جابر بن سمرة نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ خلۀ مبارك پراخه وه (خکه چه د سړو دپاره د خلے پراخی غوره ده او د ښځو دپاره بده ده) په سترګو کښې ئې سرے وړے وړے کرښے وے. پوندے ئې کمے غوښے والا. سماك ته شعبه اووے ضَلِيع الفم څۀ ته

عَظِيمُ الْفَمِ قَالَ قُلْتُ مَا أَشْكَلُ الْعَيْنِ قَالَ طَوِيلُ شَقِّ الْعَيْنِ قَالَ قُلْتُ مَا مَنْهُوسُ الْعَقِبِ قَالَ قَلِيلُ لَحْمِ الْعَقِبِ

وائي. هغوی اووے غټې خلې ته بیا شعبه اووے اشکل العین څهٔ ته وائي؟ هغوی اووے د سترګو اوږد چاؤد ته (خو دا د سماك وئيل غلط دي او صحیح دغه معنی ده چه په سپین والی کښې سُور والے میلاؤ شوے وو) شعبه اووے منهوس العَقِبَين څهٔ ته وائي؟ هغوی اووے په پونده باندے کمه غوښه کیدل ته.

عَنِ الْجُرَيْرِيِّ عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ قُلْتُ لَهُ أَرَأَيْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ كَانَ أَبْيَضَ مَلِيحَ الْوَجْهِ قَالَ مُسْلِمُ ابْنُ الْحَجَّاجِ مَاتَ أَبُو الطُّفَيْلِ سَنَةَ مِائَةٍ وَكَانَ آخِرَ مَنْ مَاتَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جریر نه روایت دے چه ما ابو الطفیل ته اووے چه تاسو رسول الله ﷺ لره لیدلے وو. هغوی اووے آو. د حضرتؐ د مخ مبارك رنګ سپین سیرناك (چه د ټولو رنګونو نه غوره دے) امام مسلم وائي ابو الطفیل په سنه ۱۰۰ھ کښې وفات شوے دے او د رسول الله ﷺ په صحابو کښې د ټولو نه روستو دے وفات شوے دے[1].

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ رَجُلٌ رَآهُ غَيْرِي قَالَ فَقُلْتُ لَهُ فَكَيْفَ رَأَيْتَهُ قَالَ كَانَ أَبْيَضَ مَلِيحًا مُقَصَّدًا

د ابو الطفیلؓ نه روایت دے وائي چه ما رسول الله ﷺ لره لیدلے دے. او اوس یو هم د حضرتؐ په لیدلو والا کښې څما نه بغیر پاتې نهٔ دے. جریري وائي ما ترے تپوس اوکړو تا څنګه لیدلے دے (یعني هغوی څنګه وو) هغوی اووے حضرت سپین رنګے وو خلیدو به او درمیانه قد ئے وو.

بَاب شَيْبِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب: د حضرتؐ د بوډا والی بیان

عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ هَلْ خَضَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ رَأَى مِنَ الشَّيْبِ إِلَّا

د ابن سیرین نه روایت دے چه د انسؓ نه تپوس اوکړے شو چه آیا رسول الله ﷺ خضاب لګولی دی؟ هغوی اووے د حضرتؐ دومره بوډا والے نهٔ دے لیدلے شوے (چه د خضابو ضرورت راغلے

---

[1] هغه د ټولو صحابوؓ نه روستے وو. د هغوی نه پس بیا په نارینو کښې یو صحابي نهٔ وو. ځنے خلق وائي چه بابا رتن هندي صحابي وو چه په کال ۶۰۰ھ کښې ظاهر شو. دا محض غلط او دروغ دي او د رسول الله ﷺ د دے حدیث خلاف دي چه د نن نه به سل کاله روستو یو سړے د دے وخت پاتې نهٔ شي.

قَالَ ابْنُ إِدْرِيسَ كَأَنَّهُ يُقَلِّلُهُ وَقَدْ خَضَبَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ

وے) البته ابوبکرؓ او عمرؓ خضاب ورکړی دی په نکریزه او وسمه سره (نیل سره)

عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ هَلْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَضَبَ فَقَالَ لَمْ يَبْلُغِ الْخِضَابَ كَانَ فِي لِحْيَتِهِ شَعَرَاتٌ بِيضٌ قَالَ قُلْتُ لَهُ أَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَخْضِبُ قَالَ فَقَالَ نَعَمْ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ

د ابن سیرینؒ نه روایت دے چه ما د انس بن مالکؓ نه تپوس اوکړو چه آیا رسول الله ﷺ خضاب لګولی دی. هغوی اووے حضرت ﷺ د خضابو ته نۀ دے رسیدلے د حضرت ﷺ په ږیره مبارکه کښې صرف څو ویختۀ سپین وو. ابن سیرین اووے آیا ابوبکرؓ به خضاب لګولو هغوی اووے آو په نکریزه او وسمه سره.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أَخَضَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهُ لَمْ يَرَ مِنَ الشَّيْبِ إِلاَّ قَلِيلاً

د محمد بن سیرین نه روایت دے وائی چه ما د انس بن مالکؓ نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ خضاب لګولی دی. هغوی اووے د حضرت ﷺ بوډا والی نۀ دے لیدلے شوے مګر لږ شان.

عَنْ ثَابِتٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ خِضَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتٍ كُنَّ فِي رَأْسِهِ فَعَلْتُ وَقَالَ لَمْ يَخْتَضِبْ وَقَدِ اخْتَضَبَ أَبُو بَكْرٍ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ وَاخْتَضَبَ عُمَرُ بِالْحِنَّاءِ بَحْتًا

د ثابت نه روایت دے چه د انس بن مالکؓ نه تپوس اوکړے شو چه رسول الله ﷺ خضاب لګولی وو؟ هغوی اووے کچرے ماغوښتے نو د حضرت ﷺ د سر سپین ویختۀ مے شمارولے شو. حضرتؐ خضاب نۀ دی لګولی. البته ابوبکرؓ خضاب کړی دی په نکریزه او نیل سره. او عمرؓ خضاب کړی دی صرف په نکریزه سره.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ يُكْرَهُ أَنْ يَنْتِفَ الرَّجُلُ الشَّعْرَةَ الْبَيْضَاءَ مِنْ رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ قَالَ وَلَمْ يَخْتَضِبْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا كَانَ الْبَيَاضُ فِي عَنْفَقَتِهِ وَفِي الصُّدْغَيْنِ وَفِي الرَّأْسِ نَبْذٌ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے وائی چه د سَر او ږیرے نه سپین ویختۀ ویستل مکروه دی (لیکن حرام نۀ دی . نوویؒ) او رسول الله ﷺ خضاب نۀ دی لګولی. د حضرت ﷺ په وړه ږیره کښې (کومه چه د شونډے نه لاندے وی) څۀ سپین ویختۀ وو او څۀ د غوږونو په خوا کښې او څۀ په سر کښې وو.

عَنِ الْمُثَنَّى بِهَذَا الإِسْنَادِ

د مثنّٰی نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ شَيْبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا شَانَهُ

د انسؓ نه روایت دے د هغوی نه تپوس اوکړے شو د رسول الله ﷺ د بوډا والی حال نو هغوی اووے . حضرت ﷺ لره بدل کړے شوے

اللهُ بِبَيْضَاءَ

نۀ وو سپین (یعنی سپین شوی نۀ دی)

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذِهِ مِنْهُ بَيْضَاءَ وَوَضَعَ زُهَيْرٌ بَعْضَ أَصَابِعِهِ عَلَى عَنْفَقَتِهِ قِيلَ لَهُ مِثْلُ مَنْ أَنْتَ يَوْمَئِذٍ فَقَالَ أَبْرِي النَّبْلَ وَأَرِيشُهَا

د ابوجحیفه نه روایت دے وائی چه ما په رسول الله ﷺ کښې دا سپین والے لیدلے دے او زهیر خپلے څۀ ګوتے په وړه ږیره کیښودے او ئے خودله. خلقو ابوجحفه ته اووے په دغه ورځ تۀ څنګه وے؟ هغوی اووے ما په غشی کښې سُوکه او وزرے لګولے.

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْيَضَ قَدْ شَابَ كَانَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ يُشْبِهُهُ

د ابوجحفه نه روایت دے وائی چه ما رسول الله ﷺ اولیدو نو د هغوی رنګ مبارک سپین وو او بوډا شوے وو. او امام حسن بن علیؓ د هغوی مشابه وو[1].

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ بِهٰذَا وَلَمْ يَقُولُوا أَبْيَضَ قَدْ شَابَ

د ابوجحفه نه دغه حدیث مروی دے مګر دده راویانو د أَبْيَضَ قَدْ شَابَ الفاظ نۀ دی وئیلی.

١ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ سُئِلَ عَنْ شَيْبِ النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ كَانَ إِذَا دَهَنَ رَأْسَهُ لَمْ يُرَ مِنْهُ شَيْءٌ وَإِذَا لَمْ يَدْهُنْ رُئِيَ مِنْهُ

د سماک نه روایت دے وائی چه ما د جابر بن سمرهؓ نه تپوس او کړو د رسول الله ﷺ د بوډاوالی د حال، هغوی اووے حضرت ﷺ چه به هر کله تیل پورے کول نو څۀ سپین والے به پکښې نۀ معلومیده چه تیل به ئے پورے نۀ کړل نو څۀ سپین به پکے معلومیدۀ[2].

بَابُ إِثْبَاتِ خَاتَمِ النُّبُوَّةِ

باب: د مهر نبوت بیان

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ قَدْ شَمِطَ مُقَدَّمُ رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ وَكَانَ إِذَا

د جابر بن سمرهؓ نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ د سر او د ږیرے مبارکے مخے ته حصه سپینه شوے وه. هر کله چه به حضرت ﷺ تیل

---

[1] په خنو روایتونو کښې دی چه د امام حسنؓ د بدن پورته حصه بالکل د رسول الله ﷺ مشابه وه. او د امام حسینؓ لاندے حصه. غرض دا چه دواړه په یو خائے د رسول الله ﷺ تصویر وو. افسوس دے چه خنو بد بختو ددغه نعمت قدر او نۀ پیژندو. او دواړو نمسو لره ئے په خومره ظلم سره شهیدان کړل إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ. الله تعالی د مونږ لره په دنیا کښې د حضرت ﷺ د اهل بیتو په محبت باندے قائم و دائم اولری. او په آخرت کښې د زمونږ د هغوی په غلامانو کښې حشر اوکړی. آمین یا رب العالمین.

[2] قاضی وئیلی دی علماؤ اختلاف کړے دے چه رسول الله ﷺ خضاب کړی دی یا نۀ دی. نو د اکثرو قول دا دے چه نۀ ئے دی کړی. او بعضو قول دا دے چه لګولی ئے دی په دلیل د أم سلمه او ابن عمر او غوره خبره داده چه حضرت ﷺ کله له رنګ کړی دی ویختو لره او اکثر ئے نۀ دی رنګ کړی. دا دے وجے نه دواړه روایتونه صحیح دی.

ادْهَنَ لَمْ يَتَبَيَّنْ وَإِذَا شَعِثَ رَأْسُهُ تَبَيَّنَ وَكَانَ كَثِيرَ شَعْرِ اللِّحْيَةِ فَقَالَ رَجُلٌ وَجْهُهُ مِثْلُ السَّيْفِ قَالَ لَا بَلْ كَانَ مِثْلَ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ كَانَ مُسْتَدِيرًا وَرَأَيْتُ الْخَاتَمَ عِنْدَ كَتِفِهِ مِثْلَ بَيْضَةِ الْحَمَامَةِ يُشْبِهُ جَسَدَهُ

اولګول نو سپين والے به نۀ معلوميدۀ او هر کله چه به خشك (سپور) شو نو سپين والے به پکښ معلوم شو. او د حضرت ﷺ ږيره مبارکه ډيره ګڼره وه. يو سړی اووے د هغوی مخ مبارك د تورے پشان وو يعنی اوږد. جابر اووے نه د هغو مخ د نمر او سپوږمۍ پشان وو او ګول وو. او ما د نبوت مهر د حضرت په اوګه مبارکه باندے ليدلے دے لکه د کونترے د اګۍ غوندے. او د هغے رنګ د بدن د رنګ سره ميلاويدۀ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ خَاتَمًا فِي ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّهُ بَيْضَةُ حَمَامٍ

د جابر بن سمرة نه روايت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ په شا مبارکه باندے د نبوت مهر لکه د کونترے د اګۍ ليدلے دے.

عَنْ سِمَاكٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د سماك نه په دے سند سره دغسے روايت دے.

عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ يَقُولُ ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ فَمَسَحَ رَأْسِي وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ تَوَضَّأَ فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ ثُمَّ قُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِهِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِثْلَ زِرِّ الْحَجَلَةِ

د سائب بن يزيد نه روايت دے وائی چه ځما ترور زۀ د رسول الله ﷺ خواله بوتلم او اوئے وئيل چه يا رسول الله ﷺ ځما دا خورئے بيمار دے. حضرت ﷺ ځما په سر باندے لاس راښکودو او د برکت دعا ئے اوکړه بيائے اودس اوکړو ما د حضرت ﷺ نه هغه پاتے اوبۀ اوڅښلے بيا زۀ د هغوی نه شا طرفته اودريدم. ما مهر نبوت د دواړو اوګو په مينځ کښ اوليدو لکه د چپرکټ د غوټۍ (يا حجله يو ځناور دے د هغۀ د اګۍ پشان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلْتُ مَعَهُ خُبْزًا وَلَحْمًا أَوْ قَالَ ثَرِيدًا قَالَ فَقُلْتُ لَهُ أَسْتَغْفَرَ لَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ وَلَكَ ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ قَالَ ثُمَّ دُرْتُ

د عبد الله بن سرجس نه روايت دے وائی چه ما رسول الله ﷺ لره ليدلے دےاو د هغوی سره مے ډوډۍ او غوښه يا ثريد خوړلے دے. هغوی اووے ما د عبد الله نه تپوس اوکړو ستاسو دپاره بخشش غوښتلے دے رسول الله ﷺ. هغوی اووے آو او ستا دپاره هم. بيائے دا ايت اولوستو: وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ (يعنی بخښنه غواړه د خپل ګناه او مؤمنانو سړو او د ښځو د ګناه) عبد الله وائی بيا زۀ د

خَلْفَهُ فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ عِنْدَ نَاغِضِ كَتِفِهِ الْيُسْرَى جُمْعًا عَلَيْهِ خِيلَانٌ كَأَمْثَالِ الثَّآلِيلِ

حضرت نه روستو لاړم نو ما د نبوت مهر اوليدو د دواړو اوګو په مينځ کښې د ګرچې هډو کښې په خوا کښې ګسے اوګے ته نزدے د غوټۍ پشان په هغې باندے داغونه وو د زخو پشان

بَابُ قَدْرِ عُمْرِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب : د حضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عُمر بيان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ وَلَا بِالْقَصِيرِ وَلَيْسَ بِالْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ وَلَا بِالْآدَمِ وَلَا بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلَا بِالسَّبِطِ بَعَثَهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ وَتَوَفَّاهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعْرَةً بَيْضَاءَ

د انس بن مالك نه روايت دے چه بيشكه دهٔ اوريدلی دی وائی چه رسول الله ﷺ نه ډير دنګ وو او نهٔ چِت (يعنی پست قد) نهٔ بالكل سپين وو نهٔ غنم رنګے. د حضرت ﷺ ويختهٔ نهٔ بالكل سخت ګورګوتی وو نهٔ بالكل نيغ وو. الله حضرت ﷺ لره نبی کړو په څلويښتم کال. بيا حضرت ﷺ لس کاله په مکه کښې پاتےشو او لس کاله په مدينه کښې. او د شپيتم کال په آخر کښې الله حضرت ﷺ لره اوچت کړو. دغه وخت د حضرت ﷺ په سر او ږيره کښې شل ويختهٔ هم سپين نهٔ وو.[1]

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ وَزَادَ فِي حَدِيثِهِمَا كَانَ أَزْهَرَ

د انس بن مالك نه د مالك د حديث پشان روايت دے او دے دواړو په حديث کښې دا زياته ده چه د حضرت ﷺ رنګ سپين پرقيدونکے وو (چه په ټولو رنګونو کښې ښهٔ وی)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قُبِضَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ وَأَبُو بَكْرٍ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ وَعُمَرُ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ

دا نس بن مالك نه روايت دے وائی چه د رسول الله ﷺ انتقال شوے دے په درے شپيتهٔ کاله کښې او د ابوبکر هم په درے شپيتهٔ کاله کښې. او د عمر هم په درے شپيتهٔ کاله کښې انتقال شوے دے.

---

[1] نووي وائی صحيح داده چه حضرت ﷺ د درے شپيتو کالو په عمر کښې انتقال کړے دے. او په مکه کښې د نبوت نه پس د ديارلسو کالو پورے اوسيدلے دے. او خنو وئيلی دی چه د حضرت ﷺ عمر پنځهٔ شپيتهٔ کاله وو. او خنو وئيلی دی چه د درے شلويښتو کالو په عمر کښې ورته نبوت ورکړے شوے دے. ليکن دا دواړه قولونه غلط دی. حضرت ﷺ په عام الفيل کښې پيدا شوے وو د ګُل په ورځ د ربيع الاول په مياشت کښې. او انتقال ئے هم شوے دے د ګُل په ورځ د ربيع الاول په مياشت کښې. ليکن په تاريخ پيدائش کښې ئے اختلاف دے. ۲ يا ۳ يا ۸ يا ۱۰ يا ۱۲ ربيع الاول باندے او وفات ئے په خوارلسم ربيع الاول د څاښت په وخت اوشو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ تُوُفِّيَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ سَنَةً و قَالَ ابْنُ شِهَابٍ أَخبرنِي سعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ بِمِثْلِ ذَلِكَ

د ام المؤمنين عائشې صديقې نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د دريشپيتۀ کالو په عمر کښې وفات شوے دے ابن شهاب وئيلي دي چه سعيد بن المسيب ما ته هم دغه شان روايت کړے دے.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِالْإِسْنَادَيْنِ جَمِيعًا مِثْلَ حَدِيثِ عُقَيْلٍ

د ابن شهاب نه په دواړو اسنادونو سره د عقيل د حديث پشان روايت دے.

عَنْ عَمْرٍو قَالَ قُلْتُ لِعُرْوَةَ كَمْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ قَالَ عَشْرًا قَالَ قُلْتُ فَإِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ ثَلَاثَ عَشْرَةَ

د عمرو نه روايت دے وائي چه ما عروه بن زبير ته اووے. رسول الله ﷺ «د نبوت نه روستو» په مکه کښې څومره زمانه پاتے وو. هغوی اووے د لسو کالو پورے. ما اووے ابن عباس ديارلس کاله وئيلي دي.

عَنْ عَمْرٍو قَالَ قُلْتُ لِعُرْوَةَ كَمْ لَبِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ قَالَ عَشْرًا قُلْتُ فَإِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ بِضْعَ عَشْرَةَ قَالَ فَغَفَّرَهُ وَقَالَ إِنَّمَا أَخَذَهُ مِنْ قَوْلِ الشَّاعِرِ

د عمرو نه روايت دے وائي چه ما عروه ته اووے. رسول الله ﷺ په مکه کښې د څومره مُدے پورې وو. هغوی اووے د لسو کالو پورے وو. ما اووے ابن عباس خو د لسو نه څو کاله زيات وائي. عروه د هغوی دپاره د مغفرت دُعا اوکړه (يعني الله تعالى د، د هغوی غلطي معاف کړی) او اوئې وئيلې چه هغوی د شاعر په وينا سره دهوکه شوی دی[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَثَ بِمَكَّةَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ وَتُوُفِّيَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ

د ابن عباس نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ په مکه کښې دديارلسو کالو پورے وواو حضرت ﷺ وفات اوموندو د درے شپيتو کالو په عمر کښې.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ سَنَةً يُوحَى إِلَيْهِ وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرًا وَمَاتَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ سَنَةً

د عبد الله بن عباس نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ په مکه کښې د ديارلسو کالو پورے وو. په حضرت ﷺ باندے وحي نازليدله او په مدينه کښې د لسو کالو پورے وو. او حضرت ﷺ وفات شو د درے شپيتو کالو په عمر کښې.

---

[1] هغه شاعر ابو قيس صرمه بن انس دے د هغه شعر دا دے:

ثوى فِي قُرَيْشٍ بِضْعَ عَشْرَةَ حِجَّةً　　يُذَكِّرُ لَوْ يَلْقَى خَلِيلًا مُوَاتِيَا

يعني رسول الله ﷺ په قريشو کښې په لسو باندے د څو حجونو پورے پاتے شو او وعظ نصيحت ئے کولو. په دے خيال سره چه کيدے شي څوک دوست ميلاؤ شي.

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ فَذَكَرُوْا سِنِيْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ كَانَ أَبُوْ بَكْرٍ أَكْبَرَ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ عَبْدُ اللهِ قُبِضَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَّسِتِّيْنَ وَمَاتَ أَبُوْ بَكْرٍ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَّسِتِّيْنَ وَقُتِلَ عُمَرُ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَّسِتِّيْنَ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ يُقَالُ لَهُ عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ قَالَ كُنَّا قُعُوْدًا عِنْدَ مُعَاوِيَةَ فَذَكَرُوْا سِنِيْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ مُعَاوِيَةُ قُبِضَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَّسِتِّيْنَ سَنَةً وَمَاتَ أَبُوْ بَكْرٍ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَّسِتِّيْنَ وَقُتِلَ عُمَرُ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَّسِتِّيْنَ

د ابواسحٰق نه روایت دے وائی چه زهٔ د عبد الله بن عتبه سره ناست وم. چه خلقو د رسول الله ﷺ د عمر شریف ذکر اوکړو خنو اووے ابوبکرؓ د حضرت ﷺ نه مشر وو. عبد الله اووے رسول الله ﷺ انتقال کړے دے د درے شپیتو کالو په عمر کښ. او ابوبکرؓ وفات شوے دے د درے شپیتو کالو په عمر کښ. او حضرت عمرؓ شهید کړے شوے دے د درے شپیتو کالو په عمر کښ. یو سړی اووے چه د هغهٔ نوم عامر بن سعد وو چه مونږ ته جریر بیان کړے دے چه مونږ د معاویهؓ په خوا کښ ناست وو خلقو د رسول الله ﷺ د عمر مبارک ذکر اوکړو. معاویهؓ اووے چه حضرت ﷺ وفات شوے دے د درے شپیتو کالو په عمر کښ. او ابوبکرؓ وفات شوے دے د درے شپیتو کالو په عمر کښ. او عمرؓ شهید کړے شوے دے د درے شپیتو کالو په عمر کښ.

عَنْ جَرِيْرٍ أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ يَخْطُبُ فَقَالَ مَاتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَّسِتِّيْنَ وَأَبُوْ بَكْرٍ وَعُمَرُ وَأَنَا ابْنُ ثَلَاثٍ وَّسِتِّيْنَ

د جریر نه روایت دے چه هغوی د معاویه بن ابی سفیان نه په خطبه لوستلو کښ اوریدلی دی هغه وائی رسول الله ﷺ وفات موندلے دے د درے شپیتو کالو په عمر کښ. او ابوبکرؓ هم په درے شپیتو کالو په عمر کښ. او عمرؓ هم په دغه کښ. او زهٔ نم اوس د درے شپیتو کالو یم (نو خما هم توقع ده چه په دے کال کښ مړ شم او د هغوی سره موافقت حاصل کړمه خو هغوی ته دغه موافقت میلاؤ نهٔ شو. او هغه د اتیاؤ کالو پورے ژوندے وو او په کال ٦٠ هجری کښ ئے انتقال اوکړو)

عَنْ مَوْلٰى بَنِيْ هَاشِمٍ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ كَمْ أَتٰى لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ مَاتَ فَقَالَ مَا كُنْتُ أَحْسِبُ مِثْلَكَ مِنْ قَوْمِهٖ يَخْفٰى عَلَيْهِ

د عمار، مولی بن هاشم نه روایت دے چه د بنی هاشم ازاد کړے غلام وو. وائی چه ما د ابن عباس نه تپوس اوکړو. هر کله چه رسول الله ﷺ وفات شو نو د هغوی عمر مبارک څومره وو. هغوی اووے چه ته خاص د حضرت ﷺ د قوم نه ئے او دومره خبره نه پیژنے. ما اووے ما د خلقو نه

ذَاكَ قَالَ قُلْتُ إِنِّي قَدْ سَأَلْتُ النَّاسَ فَاخْتَلَفُوا عَلَيَّ فَأَحْبَبْتُ أَنْ أَعْلَمَ قَوْلَكَ فِيهِ قَالَ أَتَحْسُبُ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ أَمْسِكْ أَرْبَعِينَ بُعِثَ لَهَا خَمْسَ عَشْرَةَ بِمَكَّةَ يَأْمَنُ وَيَخَافُ وَعَشْرَ مِنْ مُهَاجَرِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ

تپوس کړے دے هغوی اختلاف کوی نو ما ته غوره معلومه شوه چه ستاسو قول واورم په دے باب کښې ابن عباس اووے ته په حساب پوهیږے؟ ما اووے آو. هغوی اووے بنه ده څلویښت یاد ساته دغه وخت حضرت ﷺ پیغمبر شو. اوس ورسره پنځلس نور جمع کړه د کومے پورے چه حضرت ﷺ په مکه کښې وو کله د امن سره او کله د یرے سره. اوس لس ورسره نور جمع کړه په مدینه کښې د هجرت نه روستو، نو ټول چه یو ځائے کړے پنځهٔ شپیتهٔ کاله ترے جوړیږی)

عَنْ شُعْبَةَ عَنْ يُونُسَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ يَزِيدَ بْنِ زُرَيْعٍ

شعبه د یونس په دے اسناد سره هم دغسے حدیث روایت کړو څنګه چه یزید د ابن زریع نه.

عَنْ عَمَّارٍ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ تُوُفِّيَ وَهُوَ ابْنُ خَمْسٍ وَسِتِّينَ

د عمار نه روایت دے وائی چه ما ته ابن عباس بیان کړے دے چه رسول الله ﷺ وفات شو د پنځهٔ شپیتهٔ کالو په عمر کښې

عَنْ خَالِدٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د خالد نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً يَسْمَعُ الصَّوْتَ وَيَرَى الضَّوْءَ سَبْعَ سِنِينَ وَلَا يَرَى شَيْئًا وَثَمَانَ سِنِينَ يُوحَى إِلَيْهِ وَأَقَامَ بِالْمَدِينَةِ عَشْرًا

د ابن عباس نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د پنځلسو کالو پورے په مکه کښې اوسیدو آواز به ئے اوریدو (د فرښتو یا د الله د اٰیاتو) د اوو کالو پورے. لیکن څهٔ صورت به ئے نهٔ لیدو. بیاد اتو کالو پورے وحی راتله. او لس کاله په مدینه کښې اوسیدهٔ.

بَابٌ فِي أَسْمَائِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب: د حضرت صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نومو بیان

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَنَا أَحْمَدُ وَأَنَا الْمَاحِي الَّذِي يُمْحَى بِيَ الْكُفْرُ وَأَنَا الْحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى عَقِبِي وَأَنَا الْعَاقِبُ وَالْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ

د جُبیر بن مطعم نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل زهٔ محمد یم (یعنی ښهٔ خصلتونو والا) او احمد یم او ماحی یعنی څما په وجه سره به الله تعالی کفر ختموی. او حاشر یم یعنی حشر به کوی خلق څما په قدم باندے یعنی څما په نبوت باندے ولے چه څما نه پس یو نبی نشته دے (او عاقب یم یعنی څما نه پس یو نبی نشته

...ن جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليهِ وسلَّم قَالَ إِنَّ لِي أَسْمَاءً أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَنَا أَحْمَدُ وَأَنَا الْمَاحِي الَّذِي يَمْحُو اللهُ بِيَ الْكُفْرَ وَأَنَا الْحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى قَدَمَيَّ وَأَنَا الْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ أَحَدٌ وَقَدْ سَمَّاهُ اللهُ رَءُوفًا رَحِيمًا

دے[1]

د جبیر بن مطعم نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خماڅو نومونه دی. محمد او احمد او ماحی خما په وجه سره به الله تعالی کفر محوه کوی. او زۀ حاشر یم خلق به خما په دین باندے پورته کیږی. او زۀ عاقب یم. یعنی خما نه پس یو پیغمبرؑ نشته دے. او الله تعالی د حضرت ﷺ نوم رؤف او رحیم کیښودو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ شُعَيْبٍ وَمَعْمَرٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي حَدِيثِ عُقَيْلٍ قَالَ قُلْتُ لِلزُّهْرِيِّ وَمَا الْعَاقِبُ قَالَ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ وَفِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ وَعُقَيْلٍ الْكَفَرَةَ وَفِي حَدِيثِ شُعَيْبٍ الْكُفْرَ

د زهریؒ نه په دے اسناد سره روایت دے او د شعیبؒ او د معمرؒ په حدیث کښې دی. اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ او د عقیل په حدیث کښې دی راوی وائی ما زهریؒ ته اووے چه عاقب څۀ دے نو ئے اووے عاقب هغه دے چه د هغۀ نه روسته بل نبی نشته او د معمر او د عقیل په حدیث کښې (لفظ) کَفَرَةَ دے او د شعیب په حدیث کښې (لفظ) کُفْرَ دے.

عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَمِّي لَنَا نَفْسَهُ أَسْمَاءً فَقَالَ أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَحْمَدُ وَالْمُقَفِّي وَالْحَاشِرُ وَنَبِيُّ التَّوْبَةِ وَنَبِيُّ الرَّحْمَةِ

د ابوموسیٰ اشعری نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به خپل څو نومونه مونږ ته بیانول. حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ محمد یم او احمد او مقفّی (یعنی عاقب) او حاشر او نبی التوبة او نبی الرحمة (ځکه چه توبے او رحمت لره حضرت ﷺ د ځان سره راوړل راغے)

بَاب عِلْمِهِ ﷺ بِاللهِ تَعَالَى وَشِدَّةِ خَشْيَتِهِ

باب: حضرت ﷺ الله لره ښۀ پیژندۀ او د هغۀ نه ډیر یریدۀ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ صَنَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْرًا فَتَرَخَّصَ فِيهِ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ یو کار اوکړو او هغے ته ئے جائز اووے. دا خبر د حضرت ﷺ ځنے صحابؤ

---

[1] نوویؒ وائی د دے نومونو نه علاوه د حضرت ﷺ نور نومونه هم دی. ابن عربی په احوذی شرح ترمذی کښې د ځنو علماؤ نه نقل کړے دی چه د الله تعالی زر نومونه دی او د رسول الله ﷺ هم زر نومونه دی.

فَبَلَغَ ذٰلِكَ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِهِ فَكَأَنَّهُمْ كَرِهُوهُ وَتَنَزَّهُوا عَنْهُ فَبَلَغَهُ ذٰلِكَ فَقَامَ خَطِيبًا فَقَالَ مَا بَالُ رِجَالٍ بَلَغَهُمْ عَنِّي أَمْرٌ تَرَخَّصْتُ فِيهِ فَكَرِهُوهُ وَتَنَزَّهُوا عَنْهُ فَوَاللهِ لَأَنَا أَعْلَمُهُمْ بِاللهِ وَأَشَدُّهُمْ لَهُ خَشْيَةً

ته اورسیدهٔ. هغوی هغه کار لره بد اوګڼړو او د هغې نه ئې ځان اوساتو. حضرت ﷺ ته معلومه شوه نو خطبې لوستلو ته اودریدو او اوئې فرمائیل څهٔ حال دے د خلقو چه هغوی ته خبر اورسیدو چه ما د یو کار اجازت ورکړے دے بیا هغوی هغې لره بد اوګڼړو او د هغې نه ئې ځان اوساتو په الله قسم دے چه زهٔ خو د ټولو نه زیات الله پیژنم او د هر چا نه زیات د الله نه یریږم (نو ځما تابعداری کول او ځما په لاره باندے چلیدل دغه تقوی او پرهیزګاری دی. او بے ائدے په نفس باندے بار اچول او د مباح نه بچ کیدل او د هغې په اباحت کښې شك کول منع دی)

عَنِ الْأَعْمَشِ بِإِسْنَادِ جَرِيرٍ نَحْوَ حَدِيثِهِ

د اعمش نه د جریر په اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَمْرٍ فَتَنَزَّهَ عَنْهُ نَاسٌ مِنَ النَّاسِ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَغَضِبَ حَتّٰى بَانَ الْغَضَبُ فِي وَجْهِهِ ثُمَّ قَالَ مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَرْغَبُونَ عَمَّا رُخِّصَ لِي فِيهِ فَوَاللهِ لَأَنَا أَعْلَمُهُمْ بِاللهِ وَأَشَدُّهُمْ لَهُ خَشْيَةً

د حضرت عائشې نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ په یو کار کښې رخصت ورکړو. نو څهٔ خلقو د هغې نه ډډه اوکړه. رسول الله ﷺ ته د هغې اطلاع ملاؤ شوه. نو حضرت ﷺ ډیر غصه شو تر دے پورے چه د غصې اثر د حضرت ﷺ په ټول مخ مبارك ښکاره شو. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل. د هغه خلقو څهٔ حال دے چه دد ے څیز نه نفرت کوی د کوم څیز چه ما ته رخصت راکړے شوے دے. په خدائے قسم زهٔ د هغوی نه زیات د الله د رضا مندئ علم لرم او په هغې د عمل کولو دپاره زیات په سختئ سره ولاړ یم د هغوی په نسبت.

بَابُ وُجُوبِ اتِّبَاعِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب: د رسول الله ﷺ تابعداری کول واجب دی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ خَاصَمَ الزُّبَيْرَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شِرَاجِ الْحَرَّةِ الَّتِي يَسْقُونَ بِهَا النَّخْلَ فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ سَرِّحِ الْمَاءَ يَمُرُّ فَأَبَى عَلَيْهِمْ فَاخْتَصَمُوا عِنْدَ

د عبد الله بن الزبیر نه روایت دے چه یو انصاری جهګړه اوکړه د زبیر سره (چه د حضرت ﷺ د ترور ځوئ وو) د رسول الله ﷺ په مخکښې د حرّه په موره کښې (حرّه وائی تورو ګټو والا زمکے ته) د کومو نه چه ئې اوبهٔ ورکولے د کهجورو اونو ته انصاری اووے اوبهٔ پریږده چه بهیږی. زبیر نهٔ منل. آخر ټولو جهګړه اوکړه د رسول الله ﷺ

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ فَغَضِبَ الْأَنْصَارِيُّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ فَتَلَوَّنَ وَجْهُ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ يَا زُبَيْرُ اسْقِ ثُمَّ احْبِسِ الْمَاءَ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى الْجَدْرِ فَقَالَ الزُّبَيْرُ وَاللهِ إِنِّي لَأَحْسِبُ هَذِهِ الْآيَةَ نَزَلَتْ فِي ذَلِكَ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ

په مخکښې حضرت ﷺ اوفرمائیل زبیر ته اے زبیره! ته خپلے اونے اوبۀ کړه. بیا اوبۀ د خپل ګاونډی په طرف پریږده. ددے په اوریدو انصاری غصه شو او اونے وئیل یا رسول الله ﷺ زبیر ستاسو د ترور خوئ وو (په دے وجه تاسو د هغوی لحاظ اوکړو) ددے خبرے په اوریدو د حضرت ﷺ د مخ مبارک رنګ بدل شو او حضرت ﷺ اوفرمائیل. اے زبیر! خپلے اونے اوبۀ کړه بیا پکښې اوبۀ حصارے کړه تردے پورے چه د پولو پورے اوخیژی. زبیر اووے په خدائے قسم چه خامخا. دا ایت په دغه باره کښې نازل شو. فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ د آخره پورے[1]

بَابُ كَرَاهَةِ إِكْثَارِ السُّؤَالِ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ

باب: بے ضرورته مسئلے تپوسل منع دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَاجْتَنِبُوهُ وَمَا أَمَرْتُكُمْ بِهِ فَافْعَلُوا مِنْهُ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زۀ چه د کوم کار نه تاسو لره منع کوم د هغے نه منع کیږئ او د کومے چه درته حکم کوم هغه په ځائے راوړئ. د کومے پورے چه درنه کیدے شی

[1]: یعنی قسم دے په الله باندے هغه مؤمن نۀ دے د کومے پورے چه تا لره په خپلو جهګړو کښې حاکم جوړ نۀ کړی. بیا چه ته کومه فیصله اوکړے په هغے خفه نۀ شی او اونے منی. مخکښې خو حضرت ﷺ زبیر ته دا حکم اوکړو چه خپلے اونے اوبۀ کړه او اوبۀ پریږده. دا حکم د زبیر په حق کښې پوره نۀ دے بلکه د انصاری سره ورته رعایت منظور وو. او حضرت ﷺ په دے پوهه وو چه زبیر به د حضرت ﷺ په فرمان سره په خپل دغه حق پریخودو باندے او د ګاونډی سره په سلوک کولو باندے راضی شی. لیکن هر کله چه انصاری بے ادبی اوکړی او د هغوی احسان ئے اونۀ منو نو حضرت ﷺ د قاعدے حکم ورکړو. هغه حکم دادے چه د چا زمکه د پاسه وی هغه د په خپل باغ کښې دومره اوبۀ حصارے کړی چه د پولو پورے راشی بیا به لاندے والا طرفته اوبۀ پریږدی. ځکه چه په لاندے حصه کښې خو اوبۀ ضرور جمع کیږی.

علماء وائی چه دغه انصاری چه کومه خبره اوکړه. اوس کچرے څوك داسے خبره اوکړی د حضرت ﷺ په باره کښې نو کافر به شی او د هغۀ قتل به واجب شی. لیکن حضرت ﷺ [illegible] انصاری ته سزا ورنۀ کړه. ځکه چه د اسلام شروع زمانه وه. او حضرت ﷺ په صبر کولو د منافقانو په تکلیف رسولو باندے [illegible] ئیل به ئے چه خلق داسے او نۀ وائی چه محمد ﷺ خپل ملګری قتلوی.

داؤد وئیلی دی دغه کس منافق [illegible] بهر حال د ایت قرآن نه دا رااووته چه د کومے پورے د رسول الله ﷺ دغه سنت لره څوك د خپلو جهګړو فیصله اونۀ ګرځوی طو د حد [illegible] لکه چه کومه ثابته شوه هغه په خوشحالئ سره اونۀ منی ددغه وخته پورے هغه مومن نۀ شی کیدے. معاذ الله! د هغه خلقو به څۀ حال وی چه د صحیح حدیث د لیدو باوجود هغه نۀ منی او د چا ایرے غیرے د قول تابعداری کوی هغه په نص قرآنی سره مومن نۀ دے.

مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَثْرَةُ مَسَائِلِهِمْ وَاخْتِلَافُهُمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ

ولې چه ستاسو نه مخکښې خلق تباه شوی دی په ډیرو تپوسونو سره او اختلاف کولو سره په خپلو پیغمبرانو باندے[1]

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ سَوَاءً

د ابن شهابؒ نه په دے اسناد سره بالکل داسے روایت دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ وَفِي حَدِيثِ هَمَّامٍ مَا تُرِكْتُمْ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ ثُمَّ ذَكَرُوا نَحْوَ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدٍ وَأَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه څه زه پریږدم هغه تاسو هم پریږدئ (یعنی د کوم څیز چه زه ذکر او نکړم تاسو هم د هغې ذکر مه کوئ) ځکه چه ستاسو نه مخکښنی خلق په دے وجه هلاک شوی وو. مخکښې حدیث هغه شان دے ځنګه چه د زهری حدیث چه هغوی د سعید او ابوسلمه په واسطه سره د ابوهریرهؓ روایت کړو.

عَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ أَعْظَمَ الْمُسْلِمِينَ فِي الْمُسْلِمِينَ جُرْمًا مَنْ سَأَلَ عَنْ شَيْءٍ لَمْ يُحَرَّمْ عَلَى الْمُسْلِمِينَ فَحُرِّمَ عَلَيْهِمْ مِنْ أَجْلِ مَسْأَلَتِهِ

د سعدؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په مسلمانانو کښې د ټولو نه زیات جرم دار هغه مسلمان دے چه هغه کومه خبره اوتپوسله هغه حرامه نۀ وه. لیکن د هغۀ په تپوسلو سره حرامه شوه.

عَنْ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْظَمُ الْمُسْلِمِينَ فِي الْمُسْلِمِينَ جُرْمًا مَنْ سَأَلَ عَنْ أَمْرٍ لَمْ يُحَرَّمْ فَحُرِّمَ عَلَى النَّاسِ مِنْ أَجْلِ مَسْأَلَتِهِ

سعدؓ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. په مسلمانانو کښې د ټولو نه زیات جرم دار هغه سړے دے چه هغه د داسے څیز په باره کښې تپوس اوکړو چه حرام نۀ وو لیکن د هغه د تپوس کولو په وجه حرام شو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ رَجُلٌ سَأَلَ عَنْ شَيْءٍ وَنَقَّرَ عَنْهُ وَقَالَ فِي حَدِيثِ يُونُسَ عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ أَنَّهُ سَمِعَ سَعْدًا

د زهری نه په دے اسناد سره روایت دے. او د معمر په حدیث کښې دی چه یو سړی د یو څیز په باره کښې تپوس اوکړو وضاحت ئے اوکړو. او د یونس حدیث د عامر بن سعد نه مروی دے چه هغوی اوریدلی دی د سعدؓ نه

---

[1] نووي وئیلی دی د بے ضرورته تپوس کولو نه حضرت ﷺ منع فرمائیلے ده د څو مصلحتونو په وجه سره. یو خو دا چه د سوال کولو په وجه سره ځنے څیزونه حرامیږی او خلقو ته تکلیف کیږی. دویم دا چه بعضے وخت جواب داسے میلاؤ شی چه په تپوس کونکی ګرانه شی دریم دا چه په ډیرو تپوسونو سره پیغمبر ته تکلیف وی او پیغمبر ته تکلیف رسول د هلاکت باعث دے البته د ضرورت په وخت سوال صحیح دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ بَلَغَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَصْحَابِهِ شَيْءٌ فَخَطَبَ فَقَالَ عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ وَلَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا قَالَ فَمَا أَتَى عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمٌ أَشَدُّ مِنْهُ قَالَ غَطَّوْا رُءُوسَهُمْ وَلَهُمْ خَنِينٌ قَالَ فَقَامَ عُمَرُ فَقَالَ رَضِينَا بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا قَالَ فَقَامَ ذَاكَ الرَّجُلُ فَقَالَ مَنْ أَبِي قَالَ أَبُوكَ فُلَانٌ فَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ

د انس بن مالك نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ د خپلو صحابو څۀ خبره واوريده (چه هغه بده وه) حضرت ﷺ خطبه اولوسته او اوئے فرمائيل جنت او دوزخ ځما مخے ته حاضر کړے شو. نو ما د نن پشان غوره والے او د نن پشان بدوالے چرته نۀ دے ليدلے (يعنی په جنت کښې غوره والے او په دوزخ کښې بدوالے) او کچرے تاسو خبر وے د څۀ نه چه زۀ خبر يم نو خامخا ډيره کمه به مو خندا کوله او ډير زياته به مو ژړا کوله. انس وئيلی دی چه د حضرت ﷺ په صحابو باندی د هغه ورځے نه زياته يوه سخته ورځ بله هم نۀ وه تيره شوے هغوی خپل سرو نه پټ کړی وو او د ژړا آواز د هغوی نه راتلو بيا حضرت عمر اودريدو او اوئے وئيل راضی يو مونږ د الله په رب کيدو باندے. او د اسلام په دين باندے. او د محمد په نبی کيدو باندے. يو سړے پاڅيدۀ او اوئے وئيل چه ځما پلار څوك وو. حضرت ﷺ اوفرمائيل ستا پلار فلانے سړے وو د هغۀ نوم ئے اوښودو. پس دا آيت نازل شو. اے ايمان والو تپوس مۀ کوئ د داسے خبرے چه کچرے هغه ښکاره شی نو په تاسو به بده اولګی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ أَبِي قَالَ أَبُوكَ فُلَانٌ وَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ تَمَامَ الْآيَةِ

د انس بن مالك نه روايت دے وائي چه يو سړی عرض اوکړو چه يا رسول الله! ځما پلار څوك دے حضرت ﷺ اوفرمائيل ستا پلار فلانے دے. پس دا آيت نازل شو: اے ايمان والو! د داسے څيزونو تپوس مۀ کوئ چه کچرے ښکاره شی هغه تاسو ته نو بد به معلوم شی تاسو ته

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ حِينَ زَاغَتِ الشَّمْسُ فَصَلَّى لَهُمْ صَلَاةَ الظُّهْرِ فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَذَكَرَ السَّاعَةَ وَذَكَرَ أَنَّ قَبْلَهَا أُمُورًا

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د نمر د زوال مونډو نه پس راووتو او د ماسپخين مونځ ئے ورکړو. هر کله چه سلام ئے اوګرځوو نو په منبر باندے اودريدو او د قيامت بيان ئے اوکړو او اوئے فرمائيل چه د قيامت نه مخکښې به څو خبرے لوئے لوئے ظاهر

عِظَامًا ثُمَّ قَالَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَسْأَلَنِي عَنْ شَيْءٍ فَلْيَسْأَلْنِي عَنْهُ فَوَاللهِ لَا تَسْأَلُونَنِي عَنْ شَيْءٍ إِلَّا أَخْبَرْتُكُمْ بِهِ مَا دُمْتُ فِي مَقَامِي هٰذَا قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ فَأَكْثَرَ النَّاسُ الْبُكَاءَ حِينَ سَمِعُوا ذٰلِكَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكْثَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقُولَ سَلُونِي فَقَامَ عَبْدُ اللهِ بْنُ حُذَافَةَ فَقَالَ مَنْ أَبِي يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَبُوكَ حُذَافَةُ فَلَمَّا أَكْثَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَنْ يَقُولَ سَلُونِي بَرَكَ عُمَرُ فَقَالَ رَضِينَا بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا قَالَ فَسَكَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَالَ عُمَرُ ذٰلِكَ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَى وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَقَدْ عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ آنِفًا فِي عُرْضِ هٰذَا الْحَائِطِ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ قَالَتْ أُمُّ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُذَافَةَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ حُذَافَةَ مَا سَمِعْتُ بِابْنٍ قَطُّ أَعَقَّ مِنْكَ أَأَمِنْتَ أَنْ تَكُونَ أُمُّكَ قَدْ قَارَفَتْ بَعْضَ مَا تُقَارِفُ نِسَاءُ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ فَتَفْضَحَهَا عَلَى أَعْيُنِ

شي. بيائې اوفرمائيل څوك چه خما نه څۀ تپوس كول غواړي هغه د تپوس اوكړي . په الله قسم دے چه د كومې خبرے تاسو خما نه تپوس كوئ زۀ به ئے تاسو ته ښايم. د كومې پورے چه په دے ځائے باندے يم. (نوويؒ وائي حضرت ﷺ په وحي سره ښودلو. ځكه چه د غيبو علم حضرت ﷺ ته نۀ وو د كومې پورے چه به ورته الله نۀ وو ښودلے) انسؓ وائي ددے په اوريدو خلقو ډير ژړل شروع كړل او حضرت ﷺ فرمائيل شروع كړل چه تپوس اوكړئ خما نه. آخر عبد الله بن حذافه اودريدو او اوئے ويل يا رسول اللهؐ! خما پلار څوك وو؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل ستا پلار حذيفه وو. هر كله چه حضرت ﷺ بار بار فرمائيل چه خما نه تپوس اوكړئ (كيدے شي حضرت ﷺ ته غصه ورغلے وه د ډيرو تپوسونو په وجه سره) نو حضرت عمرؓ په ناستے اوے راضي يو مونږ د الله په رب كيدو سره او د اسلام پخپل دين كيدو سره او د حضرت محمدؐ په رسول كيدو سره. هر كله چه د حضرت عمرؓ نه حضرتؐ دا واوريدل نو چپ پاتے شو. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل افت نژدے دے قسم دے په هغه ذات د چا په لاس كښ چه د محمدؐ روح دے چه اوس راوړے شو خما مخے ته جنت او دوزخ ددے ديوال په ګوټ كښ نو ما د نن ورځ پشان نۀ نيكي ليدلے ده او نۀ بدي. ابن شهاب وائي ما ته عبيد الله بن عبدالله عتبه بيان كړے دے چه د عبد الله بن حذافه مور هغوي ته اووے چه ما يو خوئ ستا نه زيات نافرمانه نۀ دے اوريدلے. ولے تۀ بے يرے ئے په دے خبره سره چه ستا مور هم هغه ګناه كړے وي لكه د جاهليت ښځو چه به كولو چه تۀ رسوا كړے هغے لره په نظر د خلقو كښ. عبد الله اووے په الله قسم دے كچرے خما رشته د يو حبشي غلام

النَّاسِ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ حُذَافَةَ وَاللهِ لَوْ أَلْحَقَنِي بِعَبْدٍ أَسْوَدَ لَلَحِقْتُهُ

سره لګيدلے نو زۀ به هم د هغے سره لګيدلے وم. (اګر چه په زنا سره نسب نۀ ثابتيږي خو کيدے شي عبد الله ته دا امر معلوم نۀ وو)

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيثِ وَحَدِيثِ عُبَيْدِ اللهِ مَعَهُ غَيْرَ أَنَّ شُعَيْبًا قَالَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ أُمَّ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُذَافَةَ قَالَتْ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ

انس د رسول الله ﷺ نه دا حديث روايت کړو او ورسره د عبيد الله حديث هم. مګر شعيب د زهري نه روايت کړو زهري اووے چه خبر راکړے دے ما ته عبيد الله بن عبد الله هغۀ اووے چه يو عالم ما ته حديث بيان کړو چه د عبد الله بن حذافه مور د يونس د حديث پشان ئے بيان کړو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّاسَ سَأَلُوا نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَحْفَوْهُ بِالْمَسْأَلَةِ فَخَرَجَ ذَاتَ يَوْمٍ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَقَالَ سَلُونِي لَا تَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ إِلَّا بَيَّنْتُهُ لَكُمْ فَلَمَّا سَمِعَ ذٰلِكَ الْقَوْمُ أَرَمُّوا وَرَهِبُوا أَنْ يَكُونَ بَيْنَ يَدَيْ أَمْرٍ قَدْ حَضَرَ قَالَ أَنَسٌ فَجَعَلْتُ أَلْتَفِتُ يَمِينًا وَشِمَالًا فَإِذَا كُلُّ رَجُلٍ لَافٌّ رَأْسَهُ فِي ثَوْبِهِ يَبْكِي فَأَنْشَأَ رَجُلٌ مِنَ الْمَسْجِدِ كَانَ يُلَاحَى فَيُدْعَى لِغَيْرِ أَبِيهِ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللهِ مَنْ أَبِي قَالَ أَبُوكَ حُذَافَةُ ثُمَّ أَنْشَأَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالَ رَضِينَا بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا عَائِذًا بِاللهِ مِنْ سُوءِ الْفِتَنِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

د انس بن مالك نه روايت دے چه خلقو د حضرت ﷺ نه تپوسونه شروع کړل تردے پورے چه حضرت ﷺ ئے تنګ کړو. يوه ورځ حضرت ﷺ راووتو او منبر ته اوختو بيائے اوفرمائيل. تپوس اوکړئ خمانه کومه خبره چه تاسو خمانه تپوسئ هغه به درته بيانوم. هر کله چه خلقو دا واوريدل نو خاموش شول او ويريدل چه چرته څۀ نوے خبره راتلونکې نۀ وي (يعنې کچرے تپوس اوکړي او د الله عذاب راتلونکے وي نو هلاك به شو) انس وائي ما ښيئ او ګس طرفته کتل شروع کړل نو هر سړے خپل سر په کپړه کښې پټوي او ژاړي. آخر يو سړي شروع اوکړه په جماعت کښې چه د هغۀ سره به خلقو جهګړه کوله (او هغۀ ته به ئے د بل نطفه وئيله) هغۀ ته به ئے آواز وکولو د هغۀ د پلار نه سوا د بل چا خوئ به ئے ورته وئيلو. هغۀ عرض اوکړو اے د الله نبي! خما پلار څوك دے. حضرت ﷺ اوفرمائيل ستا پلار حذافه دے. بيا حضرت عمر جرأت اوکړو او عرض ئے اوکړو مونږ راضي يو د الله په رب کيدو باندے او د اسلام په دين باندے او د محمد ﷺ په نبي کيدو باندے او پناه غواړو په الله سره د فتنو د

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ قَطُّ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ إِنِّي صُوِّرَتْ لِيَ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَرَأَيْتُهُمَا دُونَ هٰذَا الْحَائِطِ

بدوالي نه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل ما د نن پشان بدي او نیکي چرته نۀ دہ لیدلے. جنت او دوزخ د دواړو شکل خما مخے ته راوستے شو ما دغے دواړو لره دے دیوال سره اولیدل

عَنْ أَنَسٍ بِهٰذِهِ الْقِصَّةِ

د انس رضی الله عنه نه روایت دے دد دے قصے.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَشْيَاءَ كَرِهَهَا فَلَمَّا أُكْثِرَ عَلَيْهِ غَضِبَ ثُمَّ قَالَ لِلنَّاسِ سَلُونِي عَمَّ شِئْتُمْ فَقَالَ رَجُلٌ مَنْ أَبِي قَالَ أَبُوكَ حُذَافَةُ فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ مَنْ أَبِي يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَبُوكَ سَالِمٌ مَوْلَى شَيْبَةَ فَلَمَّا رَأَى عُمَرُ مَا فِي وَجْهِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغَضَبِ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا نَتُوبُ إِلَى اللهِ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي كُرَيْبٍ قَالَ مَنْ أَبِي يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَبُوكَ سَالِمٌ مَوْلَى شَيْبَةَ

د ابوموسی رضی الله عنه نه روایت دے وائي چه د رسول الله ﷺ نه خلقو دداسے خبرو تپوسونه اوکړل چه په هغوی بدے اولګیدے. هر کله چه خلقو ډیر تپوسونه اوکړل نو حضرت ﷺ غصه شو. بیائے اوفرمائیل تپوس کوئ خما نه څۀ چه تاسو غواړئ. یو سړی اووے خما د پلار نوم څۀ دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل ستا پلار حذافه دے. بیا یو بل سړے پاڅیدۀ او عرض ئے اوکړو خما پلار څوک دے یا رسول الله ﷺ! حضرت ﷺ اوفرمائیل ستا پلار سالم دے د شیبه غلام. حضرت عمر رضی الله عنه چه د رسول الله ﷺ په مخ مبارك باندے غصه اولیده. نو اوئے وئیل یا رسول الله ﷺ! مونږه توبه کوؤ د الله په طرف.

بَابُ وُجُوبِ امْتِثَالِ مَا قَالَهُ شَرْعًا دُونَ مَا ذَكَرَهُ مِنْ مَعَايِشِ الدُّنْيَا عَلَى سَبِيلِ الرَّأْيِ

باب: حضرت ﷺ چه کوم حکم وکړی په هغے باندے تلل واجب دی او کومه خبره چه د دنیا د معاش په نسبت په رائے سره اوفرمائي په هغے تلل واجب نۀ دی

عَنْ طَلْحَةَ قَالَ مَرَرْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَوْمٍ عَلَى رُءُوسِ النَّخْلِ فَقَالَ مَا يَصْنَعُ هٰؤُلَاءِ فَقَالُوا يُلَقِّحُونَهُ يَجْعَلُونَ الذَّكَرَ فِي الْأُنْثَى فَيَلْقَحُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَظُنُّ يُغْنِي ذٰلِكَ شَيْئًا قَالَ فَأُخْبِرُوا بِذٰلِكَ فَتَرَكُوهُ فَأُخْبِرَ رَسُولُ

د طلحه رضی الله عنه نه روایت دے وائي چه زۀ د رسول الله ﷺ سره تیر شوم په څۀ خلقو باندے چه د کهجورو د اونو سره وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا خلق څۀ کوی؟ خلقو عرض اوکړو پیوند لګوی. یعني نر لره په ماده کښں اړدی. هغه باردار کیږی. حضرت ﷺ اوفرمائیل خما خیال دے چه په دے کښں څۀ فائده نشته دے؟ دا خبر هغه خلقو ته اوشو هغوی پیوندکول پریخودل. ددے نه پس رسول الله ﷺ ته خبر

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ فَقَالَ إِنْ كَانَ يَنْفَعُهُمْ ذَلِكَ فَلْيَصْنَعُوهُ فَإِنِّي إِنَّمَا ظَنَنْتُ ظَنًّا فَلَا تُؤَاخِذُونِي بِالظَّنِّ وَلَكِنْ إِذَا حَدَّثْتُكُمْ عَنِ اللهِ شَيْئًا فَخُذُوا بِهِ فَإِنِّي لَنْ أَكْذِبَ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

اورسیدو. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے په دے کښې دوی ته فائده وی نو کوی دې ما خو یو خیالکړے وو نو مواخذه مه کوئ خما په خیال باندے لیکن هر کله چه زۀ د الله د طرفنه څۀ حکم بیان کړم نو په هغے باندے عمل کوئ ځکه چه زۀ په الله تعالی باندے دروغ وئیلو والانۀ یم[1]

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ قَدِمَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَهُمْ يَأْبُرُونَ النَّخْلَ يَقُولُونَ يُلَقِّحُونَ النَّخْلَ فَقَالَ مَا تَصْنَعُونَ قَالُوا كُنَّا نَصْنَعُهُ قَالَ لَعَلَّكُمْ لَوْ لَمْ تَفْعَلُوا كَانَ خَيْرًا فَتَرَكُوهُ فَنَفَضَتْ أَوْ فَنَقَصَتْ قَالَ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ إِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِنْ دِينِكُمْ فَخُذُوا بِهِ وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِنْ رَأْيٍ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ قَالَ عِكْرِمَةُ أَوْ نَحْوَ هَذَا قَالَ الْمَعْقِرِيُّ فَنَفَضَتْ وَلَمْ يَشُكَّ

د رافع بن خدیج نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړو او خلقو پیوند لګولو په کهجورو کښې یعني باری کولې ئې. حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو څۀ کوئ؟ هغوی اووے مونږ همیشه داسے کوو. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے تاسو دا کار اونۀ کړئ نو کیدے شی چه غوره وی. هغوی هغه کار پریخودو کهجورے شنډے شوے. خلقو رسول الله ﷺ ته دا بیان اوکړو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل زۀ خو بنیادم یم هر کله چه یوه د دین خبره تاسو ته اوښایم په هغے چلیږئ او هر کله چه یوه خبره زۀ په خپل رائے سره اوکړم نو آخر زۀ هم بنیادم یم او د بنده رائے کله ټهیک هم وی او کله غلط هم وی.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِقَوْمٍ يُلَقِّحُونَ فَقَالَ لَوْ لَمْ تَفْعَلُوا لَصَلُحَ قَالَ فَخَرَجَ شِيصًا فَمَرَّ بِهِمْ فَقَالَ مَا

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په څۀ خلقو باندے تیر شو چه هغوی باری کول کولو. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے تاسو داسے او نۀ کړئ نو غوره به وی (هغوی او نۀ کړو) آخر کهجورے خرابے

[1] نووی وائی علماؤ وئیلی دی چه د حضرت ﷺ رائے چه د خپل طرفنه وی د معاش په کارونو کښې د نورو خلقو پشان دے. او په دے کښې څۀ نقص نشته. ځکه چه د حضرت ﷺ زیات وخت به د آخرت په اصلاح او د هغے په فکر کښې صرف کیدو پس حضرت ﷺ ته به د دنیا په کارونو کښې د زیات غور کولو فرصت نۀ وو. او مراد هغه رائے دے چه په هغے کښې حضرت ﷺ دا ښکاره اووائی چه دا صرف په رائے سره دے چه په هغے کښې حضرت ﷺ دا ښکاره اووائی چه دا صرف په رائے سره ما وئیلی دی. او په مقدمه کښې وی چه هغه د دین د احکامو سره تعلق نۀ لری او باقی څومره اوامر او نواهی چه دی خواه که د دین سره تعلق لری یا د دنیا سره د هغے تولو اتباع ئې واجب ده.

لِتَخلِكُمْ قَالُوا قُلْتَ كَذَا وَكَذَا قَالَ أَنتُمْ أَعْلَمُ بِأَمْرِ دُنْيَاكُمْ

اوختے. حضرت ﷺ په هغه طرف بیا تیریدو او د خلقو نه ئے تپوس اوکړو ستاسو په دے اونو باندے څۀ اوشو هغوی اووے تاسو داسے فرمائیلی وو (چه باری کول مۀ کوئ مونږ او نۀ کړل دد ے وجے نه کهجورے خرابے اوختے) حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو د خپلے دنیا په کارونو خما نه زیات ښۀ پوهیږئ[1].

بَابُ فَضْلِ النَّظَرِ إِلَيْهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَمَنِّيهِ

باب: د حضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دیدار فضیلت

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ فِي يَدِهِ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى أَحَدِكُمْ يَوْمٌ وَلَا يَرَانِي ثُمَّ لَأَنْ يَرَانِي أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ مَعَهُمْ قَالَ أَبُو إِسْحٰقَ الْمَعْنَى فِيهِ عِنْدِي لَأَنْ يَرَانِي مَعَهُمْ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَهُوَ عِنْدِي مُقَدَّمٌ وَمُؤَخَّرٌ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه د محمد ؑ روح دے یوه زمانه به داسے راشی هر کله چه به تاسو ما نۀ شئ لیدے. او خما لیدل به تاسو ته ستاسو د ښځو او بچو او مال نه زیات محبوب وی (دد ے وجے نه خما صحبت غنیمت اوګڼړئ. د ژوند څۀ اعتبار نشته او د دین خبرے زر ایزده کړئ)

بَابُ فَضَائِلِ عِيسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ

باب: د حضرت عیسیٰ علیه الصلوٰة والسلام د لویئ بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِابْنِ مَرْيَمَ الْأَنْبِيَاءُ أَوْلَادُ عَلَّاتٍ وَلَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ نَبِيٌّ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل زۀ د هر چا نه زیات حضرت عیسیٰ ته نږدے یم. او پیغمبران ؑ ټول د علاتی رونړو پشان دی (چه د شریعت اصول یو دی او فروع کښې اختلاف دے) او خما او د هغوی په مینځ کښې نبی نشته دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د ابوهریره ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. زۀ

---

[1] په کومه خبره کښې چه فائده وی هغه کوئ په دے شرط چه د شرع په رُو سره منع نۀ وی.

اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِعِيسَى الْأَنْبِيَاءُ أَبْنَاءُ عَلَّاتٍ وَلَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَ عِيسَى نَبِيٌّ

عیسی ته زیات نږدے یم پیغمبران په خپل مینځ کښې د علاتي رونړو پشان دي. او خما او د عیسیٰ په مینځ کښې بل نبی نشته.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ فِي الْأُولَى وَالْآخِرَةِ قَالُوا كَيْفَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الْأَنْبِيَاءُ إِخْوَةٌ مِنْ عَلَّاتٍ وَأُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى وَدِينُهُمْ وَاحِدٌ فَلَيْسَ بَيْنَنَا نَبِيٌّ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي زهٔ د هر چا نه زیات نږدے یم حضرت عیسیٰؑ ته په دنیا او آخرت دواړو خایونو کښې. خلقو اووے یا رسول اللهؐ تاسو فرمائیل دي چه پیغمبرانؑ د یو پلار د خامنو پشان دي (او میاندے جدا جدا دي) دین د هغوی یو دے. او خما او د هغوی په مینځ کښې بل نبی نشته دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مَوْلُودٍ يُولَدُ إِلَّا نَخَسَهُ الشَّيْطَانُ فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ نَخْسَةِ الشَّيْطَانِ إِلَّا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ ثُمَّ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل یو بچے داسے نشته دے چه هغه شیطان سکونډلے نهٔ وی هغه ژاړی ددهٔ په سکونډلو سره مگر د مریم بچے او د هغهٔ مور. مریم (یعني حضرت ﷺ عیسیٰؑ او حضرت مریمؑ چه هغوی لره شیطان سکونډلو نهٔ دے ورکړے) بیا ابوهریرهؓ اووے کچرے غواړئ تاسو (دا آیت اولولئ (د مریمؑ مور او د عمران بی بی اووے) وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ زهٔ پناه ورکوم دے بچی لره او ددهٔ اولاد لره ستا د شیطان مردود نه.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ يَمَسُّهُ حِينَ يُولَدُ فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسَّةِ الشَّيْطَانِ إِيَّاهُ وَفِي حَدِيثِ شُعَيْبٍ مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ

د زهری نه په دے اسناد سره روایت دے. او په دے کښې دي چه کوم وخت ماشوم پیدا کیږی شیطان دهٔ لره مسه کوی هغه ژاړی چغے کړی ددهٔ د مسه کولو نه ! او د شعیب په حدیث کښې دي د شیطان د مسهٔ کولو نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ كُلُّ بَنِي آدَمَ يَمَسُّهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي. هر سړی شیطان مسه کوی په کومه ورځ چه د هغهٔ مور هغهٔ لره زیږوی. مگر

الشَّيْطَانُ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ إِلَّا مَرْيَمَ وَابْنَهَا

مریمؑ او د هغې ځوئ لره شیطان نه دی مسه کړی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِيَاحُ الْمَوْلُودِ حِينَ يَقَعُ نَزْغَةٌ مِنَ الشَّيْطَانِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی ماشوم چه د پیدا کیدو په وخت چه کومه ژړا کوی دا د شیطان د سکوند دوجې وی.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَجُلًا يَسْرِقُ فَقَالَ لَهُ عِيسَى سَرَقْتَ قَالَ كَلَّا وَالَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَقَالَ عِيسَى آمَنْتُ بِاللهِ وَكَذَّبْتُ نَفْسِي

همام وئیلی دی چه مونږ ته ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ څو احادیث بیان کړل د هغو نه یو دا دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی حضرت عیسی بن مریمؑ یو سړے په غلا کولو اولیدو. هغوی ورته اوفرمائیل تا غلا اوکړه. هغۀ اووے هیڅ کله نه قسم دے په هغه ذات چه د هغۀ نه سوا د عبادت لائق نشته چه ما غلا نۀ ده کړے حضرت عیسیؑ ورته اوفرمائیل ایمان مے راوړے دے په الله پاک باندے او دروغژن گنړم خپل ځان (یعنی ځما نه به غلطی شوے وی هر کله چه تۀ قسم خورے نو بس تۀ رښتونے ئے)

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ إِبْرَاهِيمَ الْخَلِيلِ ﷺ

باب : د ابراهیم علیه السلام د فضیلت بیان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام

د انس بن مالکؓ نه روایت دے یو سړے د رسول اللهﷺ خواله راغے او اوئے وئیل چه یا خیرُ البریّه یعنی اے په مخلوق کښ غوره. حضرتﷺ اوفرمائیل دا خو ابراهیمؑ دے[1].

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ بِمِثْلِهِ

د انسؓ نه روایت دے چه یو سړی اووئیل یا رسول اللهﷺ (مخکښ مضمون د پورتنی حدیث پشان.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

انسؓ د نبیﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړو.

---

[1] حضرتﷺ دا د عاجزئ په وجه اوفرمائیل او په دے لحاظ سره چه ابراهیم علیه السلام د حضرتﷺ په عزتمندو نیکونو کښ و. ورنه زمونږ نبیﷺ په ټول مخلوق کښ افضل دے. او ځنو وئیلی دی چه دا حدیث دد ے نه د مخکښ وخت دے. هر کله چه حضرتﷺ ته معلومه شوه چه هغوی د ټول اولاد ادم سردار دے. یا مراد دادے چه ابراهیم علیه السلام د خپلے زمانے په خلقو کښ د هر چا نه افضل وو. والله اعلم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَتَنَ إِبْرَاهِيمُ النَّبِيُّ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِينَ سَنَةً بِالْقَدُومِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي چه ابراهيم عليه السلام ختنه کړے ده په ترخز باندے. او دغه وخت د هغوی عمر اتيا کاله وو[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَحْنُ أَحَقُّ بِالشَّكِّ مِنْ إِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلَى وَلَكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي وَيَرْحَمُ اللهُ لُوطًا لَقَدْ كَانَ يَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ وَلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ طُولَ لَبْثِ يُوسُفَ لَأَجَبْتُ الدَّاعِيَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل مونږ زيات حق لرو د شك كولو د ابراهيم عليه السلام نه هر كله چه هغوی اووے اے الله تعالى ! اوښايه ما ته چه ته څنګه ژوندي كوے مړو لره. پروردګار اوفرمائيل ولے ستا يقين نشته دے. ابراهيم عليه السلام اووے ولے نه. څما يقين شته ليكن زۀ غواړم چه څما زړۀ ته آرام راشي (د علم اليقين سره د عين اليقين مرتبه حاصله شي) او رحم د اوكړي الله تعالى په لوط عليه السلام باندے هغۀ پناه غوښتله د مضبوط سخت. او كۀ چرے زۀ په قيد خانه كښې د دومره موده پورے وے څومره موده چه پكښې يوسف عليه السلام وو. نو فوراً به د راغوښتونكي سره راغلے وم[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِمَعْنَى حَدِيثِ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ

د ابوهريرهؓ نه د نبيﷺ نه د يونس (راوی) د حديث هم معنى روايت دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَغْفِرُ اللهُ لِلُوطٍ إِنَّهُ أَوَى إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل الله تعالى د لوطؑ ته بخښش اوكړي هغوی پناه غوښتلے وه د مضبوط سخت.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ النَّبِيُّ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَطُّ إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ ثِنْتَيْنِ فِي ذَاتِ اللهِ قَوْلُهُ إِنِّي

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي ابراهيم عليه السلام چرته دروغ نۀ دي وئيلي مګر درے خله دوه په ذات د الله كښې دا قول چه زۀ بيمار يم. دويم دا وينا چه دا بتان دے لوئي بت مات كړي دي. دريم دروغ د حضرت ساره بي بي په باب كښې وو. د

[1] د قدم معنى بسوله ده او څنو وئيلي دي چه قدوم د يو كلي نوم دے هلته ئے ختنه كړے ده.
[2] د دے حديث شرح په كتاب الايمان اول جلد كښې تيره شوے ده.

سَقِيمٌ وَقَوْلُهُ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هٰذَا وَوَاحِدَةٌ فِي شَأْنِ سَارَةَ فَإِنَّهُ قَدِمَ أَرْضَ جَبَّارٍ وَمَعَهُ سَارَةُ وَكَانَتْ أَحْسَنَ النَّاسِ فَقَالَ لَهَا إِنَّ هٰذَا الْجَبَّارَ إِنْ يَعْلَمْ أَنَّكِ امْرَأَتِي يَغْلِبْنِي عَلَيْكِ فَإِنْ سَأَلَكِ فَأَخْبِرِيهِ أَنَّكِ أُخْتِي فَإِنَّكِ أُخْتِي فِي الْإِسْلَامِ فَإِنِّي لَا أَعْلَمُ فِي الْأَرْضِ مُسْلِمًا غَيْرِي وَغَيْرَكِ فَلَمَّا دَخَلَ أَرْضَهُ رَآهَا بَعْضُ أَهْلِ الْجَبَّارِ أَتَاهُ فَقَالَ لَهُ لَقَدْ قَدِمَ أَرْضَكَ امْرَأَةٌ لَا يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تَكُونَ إِلَّا لَكَ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا فَأُتِيَ بِهَا فَقَامَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَمَّا دَخَلَتْ عَلَيْهِ لَمْ يَتَمَالَكْ أَنْ بَسَطَ يَدَهُ إِلَيْهَا فَقُبِضَتْ يَدُهُ قَبْضَةً شَدِيدَةً فَقَالَ لَهَا ادْعِي اللّٰهَ أَنْ يُطْلِقَ يَدِي وَلَا أَضُرُّكِ فَفَعَلَتْ فَعَادَ فَقُبِضَتْ أَشَدَّ مِنَ الْقَبْضَةِ الْأُولٰى فَقَالَ لَهَا مِثْلَ ذٰلِكَ فَفَعَلَتْ فَعَادَ فَقُبِضَتْ أَشَدَّ مِنَ الْقَبْضَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ فَقَالَ ادْعِي اللّٰهَ أَنْ يُطْلِقَ يَدِي فَلَكِ اللّٰهَ أَنْ لَا أَضُرَّكِ فَفَعَلَتْ وَأُطْلِقَتْ يَدُهُ وَدَعَا الَّذِي جَاءَ بِهَا فَقَالَ لَهُ إِنَّكَ إِنَّمَا أَتَيْتَنِي بِشَيْطَانٍ وَلَمْ تَأْتِنِي بِإِنْسَانٍ فَأَخْرِجْهَا مِنْ أَرْضِي

هغے قصه دا وه چه حضرت ابراهیم علیه السلام د یو ظالم بادشاه ملك ته اورسیدو او د هغهٔ سره د هغهٔ بی بی حضرت ساره هم وه. هغه ډیره زیاته خائسته وه. هغوی خپلے بی بی ته اووے. چه دے ظالم بادشاه ته کچرے معلومه شی چه تهٔ ځما بی بی ئے نو ځما نه به د واخلی. خکه کچرے هغه تپوس اوکړی نو تهٔ ورته داسے اووایه چه زهٔ ددے سړی خور یم او تهٔ د اسلام په رشته) سره ځما خور ئے (دا هم څهٔ دروغ نهٔ وو) خکه چه په ټوله دنیا کښں نن ځما او ستا نه سوا یو مسلمان نهٔ معلومیږی. هر کله چه حضرت ابراهیمؑ د هغه ظالم بادشاه ملك ته اورسیدو نو د هغهٔ نوکران د هغهٔ خواله لاړل. او بیان ئے ورته اوکړو چه ستا په ملك کښں یوه داسے ښځه راغلے ده. چه سوا ستا نه د بل چا لائقه نهٔ ده. هغهٔ په حضرت سارهؓ قاصد اولیږهٔ. هغه لاړه او ابراهیمؑ د مانځهٔ دپاره اودریدو. (د الله نه ئے دُعا غوښتله د هغهٔ د شر نه د بچ کیدو دپاره) هر کله چه حضرت سارهؓ د هغه ظالم خواته اورسیده. نو هغه بے اختیاره خپل لاس د هغے په طرف وراوږد کړل لیکن فوراً د هغهٔ لاس اوچ شو. هغهٔ اووے تهٔ د الله نه دُعا اوکړه چه ځما لاس برابر شی نو زهٔ به تا نهٔ تنګوم. هغوی دُعا اوکړه. هغه مردود بیا لاس وراوږد کړو. بیا د مخکښں نه زیات لاس اوچ شو. هغه ظالم ددعا دپاره اووے هغے بیا دعا اوکړه. بیا هغه مردود لاس وراوږد کړو بیا د مخکښں دواړو پیرو نه زیات اوچ شو. هغهٔ بیا اووے تهٔ د اللهؓ نه دُعا اوغواړه کهٔ دا ځل ځما لاس آزاد شو نو تا به نهٔ تنګوم. حضرت سارهؓ بیا دُعا اوکړه د هغهٔ لاس آزاد شو. بیا هغهٔ، هغه سړے راواوغوښتو کوم چه حضرت سارهؓ راوستے وه او هغه ته ئے اووے تا ځما خواله دا پیرے راوستے ده راغلے ئے دا خو بنیادم نهٔ

وَأَعْطِهَا هَاجَرَ قَالَ فَأَقْبَلَتْ تَمْشِي فَلَمَّا رَآهَا إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام انْصَرَفَ فَقَالَ لَهَا مَهْيَمْ قَالَتْ خَيْرًا كَفَّ اللهُ يَدَ الْفَاجِرِ وَأَخْدَمَ خَادِمًا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَتِلْكَ أُمُّكُمْ يَا بَنِي مَاءِ السَّمَاءِ

دے دا خما د ملك نه بهر اوباسه. او هاجرهؓ يوه وينځه ئے دے ته حواله کړه حضرت سارهؓ حضرت هاجرهؓ د خان سره کړه او واپس راغله هر کله چه ابراهيمؑ هغوی اوليدے نو واپس شو او د هغوی نه ئے تپوس اوکړو څهٔ اوشو. هغوی اووے تو خيريت شو الله تعالی د هغهٔ بدکار لاس خما نه منع کړل او يو وينځه ئے هم راکړه. ابوهريرهؓ وائی بيا دغه وينځه يعنی هاجرهؓ ستاسو مور ده اے د باران اولاده[۱].

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

باب: د حضرت موسیٰ عليه السلام د فضيلت بيان

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو

د همام بن منبه نه روايت دے چه مونږ ته ابوهريرهؓ د نبی ﷺ څو

---

[۱] د حضرت ابراهيم عليه السلام قوم ستاره پرست وو او بت پرست وو. نو د اختر په ورځ هغوی حضرت ابراهيمؑ لره هم د خپل خان سره بوتلو حضرت ابراهيمؑ د هغوی د اعتقاد په موجب دا حيله اوکړه چه ستورو ته ئے اوکتل او اوئے وئيل زهٔ ناجوړه يم دا خو په ظاهر دروغ وو مگر په حقيقت کښې توريه ده او دروغ نهٔ دی. ولے چه د بيمارئ نه د زړهٔ رنځ مراد دے. يا دا مطلب دی چه بيمار کيدونکے يم. دغه شان دويم دروغ هر کله چه هغه خلق د ښار نه بهر لاړو نو حضرت ابراهيم عليه السلام ټول بتان مات کړل او هغه تبر ئے د هغه لوئے بت په اوګه کيښودو هغوی چه هر کله راغلل او تپوس ئے اوکړو چه دا بتان چا مات کړی دی. حضرت ابراهيم عليه السلام د هغوی د قائل کولو دپاره او د الزام لګولو دپاره دا خبره جوړه کړه چه دے لوئے بت مات کړی دی. دا هم څهٔ دروغ نهٔ وو ولے چه دے دے شرط ئے اولګوؤ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ او ځنے وائی چه په بَلْ فَعَلَهٔ باندے وقف دے. يعنی چا داسے کړی دی لوئے بت موجود دے ددهٔ نه تپوس اوکړئ. کچرے هغه خبری کوی. دا دواړه دروغ ئے د الله دپاره وو. حضرت ابراهيم عليه السلام ته په دے کښې څهٔ دنياوی فائده نهٔ وه.

د عربو خلقو ته په وجه د نسبت د صفايئ د باران اولاد وائی. او ځنے وائی ددے وجے نه چه هغوی څناورو والادی. او د هغوی ژوند د آسمان په اوبو سره دے. څنو وئيلی دی دا خاص انصارو ته خطاب دے او د هغوی نيکهٔ ته به ئے مَاءُ السَّمَاءِ وئيل. نووی وائی انبياء د رسالت په امورو کښې د دروغو نه بالکل پاك دی کهٔ ډير وی يا لږ. او په ورو امورو کښې هم د دروغو نه پاك دی يعنی په دنياوی امورو کښې هم د کذب نه بالکل معصوم دی. خواه کهٔ د نورو صغائرو نه معصوم وی يا نهٔ دی. ځکه چه کذب د نبوت د منصب خلاف دی. او د حضرت ابراهيم درے واړه خبرے دروغ نهٔ وے او دوه خبرے خو ئے خاص د الله د رضا دپاره وے. او دريمه خبره ئے هم صحيح وه ځکه چه مسلمانه بی بی دينی خور هم ده. نو ددے ظلم نه د منع کيدو او د هلاکت نه د بچ کيدو دپاره داسے دروغ وئيل صحيح دی. فقهاؤ اتفاق کړے دے چه کچرے يو ظالم يو بے ګناه سړے قتلول غواړی يا د بل امانت په زور غصب کول غواړی نو د هغے د بچ کولو دپاره دروغ وئيل واجب دی. او دا کذب محمود دے نه مذموم. او د ساره دپاره چه ئے کوم دروغ اووے هغه ئے هم د الله دپاره اووئيل ځکه چه د يو ظالم د بدکارئ نه يوه پاك دامنه ښځه بچ کول خاص د الله د رضا کار دے. اګر کهٔ په دے کښې د ابراهيم عليه السلام هم فائده وه. او هم په دغه واسطه په دے حديث کښې رومبو دوو دروغو ته ئے د الله دپاره اوفرمائيل. انتهی

هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيلَ يَغْتَسِلُوْنَ عُرَاةً يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلٰى سَوْأَةِ بَعْضٍ وَكَانَ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ يَغْتَسِلُ وَحْدَهُ فَقَالُوْا وَاللّٰهِ مَا يَمْنَعُ مُوْسٰى أَنْ يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلَّا أَنَّهُ آدَرُ قَالَ فَذَهَبَ مَرَّةً يَغْتَسِلُ فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلٰى حَجَرٍ فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ قَالَ فَجَمَحَ مُوْسٰى بِأَثَرِهِ يَقُوْلُ ثَوْبِي حَجَرُ ثَوْبِي حَجَرُ حَتّٰى نَظَرَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيلَ إِلٰى سَوْأَةِ مُوْسٰى فَقَالُوْا وَاللّٰهِ مَا بِمُوْسٰى مِنْ بَأْسٍ فَقَامَ الْحَجَرُ بَعْدُ حَتّٰى نُظِرَ إِلَيْهِ قَالَ فَأَخَذَ ثَوْبَهُ فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ وَاللّٰهِ إِنَّهُ بِالْحَجَرِ نَدَبٌ سِتَّةٌ أَوْ سَبْعَةٌ ضَرْبُ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ بِالْحَجَرِ

احادیث واورول یو د هغوی داده چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. بنی اسرائیلو به برینډ لمبل او د یو بل شرمګاهونو ته به ئے کتل. لیکن موسٰی علیه السلام به په جدا ځائے کښې غسل کولو (په برینډه) خلقو اووے په الله قسم دے چه موسٰیؑ زمونږ سره په دے وجه یو ځائے نه لامبی چه دهٔ ته د فتق (یعنی انډے پړسیدل) بیماری ده. یو ځل موسٰیؑ غسل کولو. هغوی خپلے کپړے په یوه ګټه باندے کیښودے. هغه ګټے هغه کپړے واخستے او منډے ئے کړے. موسٰیؑ ورپسے هم ورستو منډے وهلے او ورته به ئے وئیل اے ګټے ځما کپړے راکړه اے ګټے ځما کپړے راکړه. تردے پورے چه د بنی اسرائیلو خلقو د هغوی شرمګاه لره اولیدو. او اوئے وئیل په الله قسم دے دهٔ ته خو یوه بیماری هم نشته. دغه وخت هغه ګټه اودریده. هر کله چه د بنی اسرائیلو خلقو هغه بنهٔ اولیدو نو حضرت موسٰیؑ خپلے کپړے واخستے او هغه ګټه ئے وهل شروع کړه. ابوهریرهؓ وائی چه په الله قسم دے په هغه ګټه باندے شپږ یا اوؤ د حضرت موسٰیؑ د وهلو نخښے دی [1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ رَجُلًا حَيِيًّا قَالَ فَكَانَ لَا يُرٰى مُتَجَرِّدًا قَالَ فَقَالَ بَنُوْ إِسْرَائِيلَ إِنَّهُ آدَرُ قَالَ فَاغْتَسَلَ عِنْدَ مُوَيْهٍ فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلٰى حَجَرٍ فَانْطَلَقَ الْحَجَرُ يَسْعٰى وَاتَّبَعَهُ بِعَصَاهُ يَضْرِبُهُ ثَوْبِي حَجَرُ ثَوْبِي

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه موسٰی علیه السلام ډیر شرمناك وو. چرته هغوی لره چا برینډ لیدلے نهٔ وو. آخر بنی اسرائیلو اووے چه دهٔ ته د فتق (د انډے پړسوب) بیماری ده یو ځل هغوی چرته په اوبو باندے غسل کولو او خپلے کپړے ئے په یوه ګټه باندے کیښودے هغے ګټے منډے کړے او حضرت موسٰیؑ خپله همسا واخسته او په هغے پسے ئے روستو منډے کړے هغه ګټه ئے وهله

[1] د دے حدیث نه څو فائدے رااووتے. یو خو دوه معجزے د موسٰیؑ نه د ګټے تښتیدل بل په ګټه کښې د وهلو نخښے جوړیدل. دویم غسل په برینډه صحیح کیدل په خاتوالی کښې. دریم د پیغمبرانو د عیب او نقص نه پاك کیدل. څلورم فضیلت د حضرت موسٰی چه الله تعالٰی هغوی لره د تهمت نه پاك کړو.

حَجَرُ حَتَّى وَقَفَ عَلَى مَلَإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَى فَبَرَّأَهُ اللَّهُ مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِنْدَ اللَّهِ وَجِيهًا

روان وو او فرمائیل نے اے کتے خما کیے راکړه. تر دے پورے چه هغه کته د بنی اسرائیلو خلق چه چرته جمع شوی وو هلته اودریده. او دا ایت نازل شو. (اے د ایمان خاوندانو! تاسو د هغه خلقو پشان مهٔ کیږئ چا چه به تنګوؤ موسیٰ لره (او په هغه باندے تهمت د فتق اولګوئ) بیا الله تعالی پاك کړو هغهٔ لره د هغهٔ خبرے نه کومه چه خلقو وئیلی وه. او هغه د الله په نز مخورز وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُرْسِلَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فَلَمَّا جَاءَهُ صَكَّهُ فَفَقَأَ عَيْنَهُ فَرَجَعَ إِلَى رَبِّهِ فَقَالَ أَرْسَلْتَنِي إِلَى عَبْدٍ لَا يُرِيدُ الْمَوْتَ قَالَ فَرَدَّ اللَّهُ إِلَيْهِ عَيْنَهُ وَقَالَ ارْجِعْ إِلَيْهِ فَقُلْ لَهُ يَضَعُ يَدَهُ عَلَى مَتْنِ ثَوْرٍ فَلَهُ بِمَا غَطَّتْ يَدُهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ سَنَةٌ قَالَ أَيْ رَبِّ ثُمَّ مَهْ قَالَ ثُمَّ الْمَوْتُ قَالَ فَالْآنَ فَسَأَلَ اللَّهَ أَنْ يُدْنِيَهُ مِنَ الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ رَمْيَةً بِحَجَرٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَوْ كُنْتُ ثَمَّ لَأَرَيْتُكُمْ قَبْرَهُ إِلَى جَانِبِ الطَّرِيقِ تَحْتَ الْكَثِيبِ الْأَحْمَرِ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه د مرګ فرښته (عزرائیل علیه السلام) د حضرت موسیٰ په خدمت کښ رااولیګلے شو. هر کله چه هغه راغے نو حضرت موسیٰ په سپیره اووهو او د هغهٔ سترګه ئے اوویسته هغه واپس پروردګار له لاړو او عرض ئے اوکړو (اے الله) تا زهٔ یو داسے بنده ته اولیږلم چه هغه د مرګ اراده نهٔ لری الله پاك د هغهٔ سترګه بیا صحیح کړه. او ورته ئے اوفرمائیل لاړ شه او هغه بنده ته اووایه چه خپل لاس د غوئی په شا باندے کیږده څومره ویختهٔ چه ستا د لاس لاندے راشی دومره کلونه عمر به درکړم (عزرائیل د غسے اوکړل) نو حضرت موسیٰ عرض اوکړو چے اے پروردګاره! د دغے د ختمیدو نه پس به څهٔ وی. حکم اوشو چه بیا به مرګ وی. حضرت موسیٰ اووے نو بیا خو اوس ښهٔ دے. هغوی دُعا اوکړه یا الله ما پاکے زمکے ته نزدے کړه (یعنی بیت المقدس ته) د یوے کانړی د ویشتو برابر. رسول الله ﷺ اوفرمائیل کچرے زهٔ هلته وے نو ما به تاسو ته د موسیٰ علیه السلام قبر خودلے وو د لارے طرفته د سرے ډهیرئ په خوا کښ[1].

[1] ددے حدیث نه معلومه شوه چه په مقدس او مبارك مقام کښ دفن کیدل غوره دی. خصوصًا د صالحینو په مدفن کښ. او حضرت موسیٰ علیه السلام په بیت المقدس کښ د دفن کیدو خواهش او نهٔ کړو په دے خیال سره چه قبر مے مشهور نهٔ شی او خلق ئے عبادت شروع نهٔ کړی. امام مازری وائی چه ځنے ملحدینو ددے حدیث نه انکار کړے دے. او وئیلی ئے دی چه موسیٰ علیه السلام د ملك

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامِ فَقَالَ لَهُ أَجِبْ رَبَّكَ قَالَ فَلَطَمَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامِ عَيْنَ مَلَكِ الْمَوْتِ فَفَقَأَهَا قَالَ فَرَجَعَ الْمَلَكُ إِلَى اللهِ تَعَالَى فَقَالَ إِنَّكَ أَرْسَلْتَنِي إِلَى عَبْدٍ لَكَ لَا يُرِيدُ الْمَوْتَ وَقَدْ فَقَأَ عَيْنِي قَالَ فَرَدَّ اللهُ إِلَيْهِ عَيْنَهُ وَقَالَ ارْجِعْ إِلَى عَبْدِي فَقُلْ الْحَيَاةَ تُرِيدُ فَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْحَيَاةَ فَضَعْ يَدَكَ عَلَى مَتْنِ ثَوْرٍ فَمَا تَوَارَتْ يَدُكَ مِنْ شَعْرَةٍ فَإِنَّكَ تَعِيشُ بِهَا سَنَةً قَالَ ثُمَّ مَهْ قَالَ ثُمَّ تَمُوتُ قَالَ فَالْآنَ مِنْ قَرِيبٍ رَبِّ أَمِتْنِي مِنَ الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ رَمْيَةً بِحَجَرٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللهِ لَوْ أَنِّي عِنْدَهُ لَأَرَيْتُكُمْ قَبْرَهُ إِلَى جَانِبِ الطَّرِيقِ عِنْدَ الْكَثِيبِ الْأَحْمَرِ

عَنْ مَعْمَرٍ بِمِثْلِ هٰذَا الْحَدِيثِ

د ابوهریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د مرگ فرښته (حضرت عزرائیل علیه السلام) حضرت موسیٰ علیه السلام ته راغے او عرض ئے اوکړو چه اے موسیٰ د خپل پروردگار بلنه قبوله کړه. حضرت موسیٰ هغهٔ له په سترگه باندے یوه سپیړه ورکړه. چه په هغے سره د هغهٔ سترگه اووته او هغه واپس الله تعالیٰ ته لاړو او عرض ئے اوکړو اے مالکه تا زهٔ داسے بنده ته اولیږلم چه هغه د مرگ اراده نهٔ لری. هغه خو خما سترگه اوچوله. الله تعالیٰ د هغهٔ سترگه بیا صحیح کړه. او ورته ئے اوفرمائیل چه خه بیا د بنده خواله ورشه او ورته اووایه کهٔ ته د ژوند اراده لرے نو خپل لاس د یو غوئی په شا باندے کیږده. څومره ویختهٔ چه ستا د لاس لاندے راشی دومره کالونه نور ژوندے اوسه (فرښتے د مرگ ورته هم دغسے اووے) موسیٰ ورته ووئیل بیا به څهٔ وی فرښتے ورته ووئیل بیا به مرگ وی. حضرت موسیٰ عرض اوکړو بیا خو اوس مرگ غوره دے. اے خما مالکه ما د مقدسے زمکے نه د یو کانړی د ویشتو په فاصله باندے مړ کړه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل په الله قسم دے کچرے زهٔ هلته وے نو ما به تاسو ته د حضرت موسیٰ قبر خودلے وو. دلاړے نه یو طرفته د سور خټ په خوا کښې.

د معمر دا حدیث پشان روایت دے.

الموت نه سترگه څنگه ویستے شوه؟ نو د هغے جواب داد ے چه د الله تعالیٰ په قدرت سره دا امر ممکن او جائز دے چه هغه به د امتحان دپاره داسے کړی وی دویم دا چه د سترگے ویستو نه به مجازی معنیٰ مراد وی یعنی په دلیل کښې مغلوب کول خو دا تاویل ضعیف دے. ځکه چه په حدیث کښې صفا موجود دی چه الله تعالیٰ د هغه سترگه صحیح کړه. دریم دا چه موسیٰ علیه السلام په بیماری کښې د هوکه شوے وی هغه به دا لړه د مرگ فرښته نهٔ وی گنړلے څوک ناشنا سړے ئے گنړلے دے او یوه سپیړه ئے ورکړه چه په هغے سره د هغه سترگه اووته . نهٔ دا چه د سترگے د ویستو هغه اراده کړے وه. او هر کله چه هغه په دویم ځل راغے نو حضرت موسیٰ علیه السلام ته معلوم شوه چه دا ملك الموت دے. او په مرگ باندے او د خپل مالك سره په میلاوید و باندے راضی شو. یا الله مونږ لو بخښے او د حضرت موسیٰ علیه السلام روح مقدس ته زمونږ سلام اورسوے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا يَهُودِيٌّ يَعْرِضُ سِلْعَةً لَهُ أُعْطِيَ بِهَا شَيْئًا كَرِهَهُ أَوْ لَمْ يَرْضَهُ شَكَّ عَبْدُ الْعَزِيزِ قَالَ لَا وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام عَلَى الْبَشَرِ قَالَ فَسَمِعَهُ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَلَطَمَ وَجْهَهُ قَالَ تَقُولُ وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام عَلَى الْبَشَرِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا قَالَ فَذَهَبَ الْيَهُودِيُّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ إِنَّ لِي ذِمَّةً وَعَهْدًا وَقَالَ فُلَانٌ لَطَمَ وَجْهِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَ لَطَمْتَ وَجْهَهُ قَالَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام عَلَى الْبَشَرِ وَأَنْتَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا قَالَ فَغَضِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى عُرِفَ الْغَضَبُ فِي وَجْهِهِ ثُمَّ قَالَ لَا تُفَضِّلُوا بَيْنَ أَنْبِيَاءِ اللهِ فَإِنَّهُ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَيَصْعَقُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللهُ قَالَ ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ أُخْرَى فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ بُعِثَ أَوْ فِي أَوَّلِ مَنْ بُعِثَ فَإِذَا مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام آخِذٌ بِالْعَرْشِ فَلَا أَدْرِي أَحُوسِبَ بِصَعْقَتِهِ يَوْمَ الطُّورِ أَوْ بُعِثَ قَبْلِي وَلَا أَقُولُ إِنَّ أَحَدًا أَفْضَلُ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى عَلَيْهِ

د ابوهريرهؓ روايت دے چه يو يهودى څۀ مال خرڅولو هغۀ ته قيمت ورکړے شو نو هغه راضى نۀ شو يا هغه بد اوګڼړل نو اونے وئيل نه قسم دے په هغه ذات چا چه حضرت موسىٰؑ له غوره کړے دے د بنيادمونه دا لفظ يو انصارى واوريدو. او هغه له ئے په مخ باندے يوه سپيړه ورکړه او ورته ئے اووے ته څۀ وائے چه موسىٰؑ الله تعالى د بنيادمو نه غوره کړے دے. او رسول اللهﷺ مونږ سره دے نو د رسول اللهﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه اے ابوالقاسم زۀ ذمى يم او په امان کښې يم زۀ فلانى سړى په سپيړه اووهلم. حضرتﷺ دهغه سړى نه تپوس اوکړو چه تا دا سړے په سپيړه ولے اووهو. هغه اووے يا رسول الله! دۀ اووے چه قسم دے په هغه ذات چه هغه غوره کړے دے حضرت موسىٰؑ له په خلقو کښې او تاسو په مونږ خلقو کښې تشريف راوړے دے (او د موسىٰؑ نه ستا رتبه زياته دۀ خکه مے اووهو) دے خبرے په اوريدو حضرتﷺ غصه شو تردے چه د حضرتﷺ په مخ مبارک باندے غصه معلومه شوه بيائے اوفرمائيل فضيلت مۀ ورکوه يو پيغمبر له په بل باندے (په دے شان سره چه د بل پيغمبر شان کم شى خکه چه د قيامت په ورځ چه هر کله شپيلئ اوپوکلے شى نو خومره خلق چه دى په آسمانونو او زمکه کښې ټول به بيهوشه شى مګر چا لره چه الله تعالى اوغوارى (هغه به بے هوشه نۀ وى) بيا به په دويم خل اوپوهکلے شى نو د ټولو نه مخکښې به زۀ پورته شم او څۀ به ګورم چه حضرت موسىٰؑ به عرش نيولے وى اوس معلومه نۀ ده چه په طور غر باندے چه کوم هغوى بے هوشه شوے وو هغه ددے بدله ده (او په دے خل به هغه نۀ بيهوشه کيږى) يا خما نه مخکښې به هوښيار يږى او زۀ دا نۀ شم

السَّلَام

وئيلې چه يو پيغمبر د حضرت يونس بن متیٰ نه افضل دے [1]

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ سَوَاءً

د عبد العزيز بن ابى سلمهؓ نه په دےاسناد سره يو شان روايت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلَانِ رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ وَرَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ الْمُسْلِمُ وَالَّذِي اصْطَفَى مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْعَالَمِينَ وَقَالَ الْيَهُودِيُّ وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام عَلَى الْعَالَمِينَ قَالَ فَرَفَعَ الْمُسْلِمُ يَدَهُ عِنْدَ ذٰلِكَ فَلَطَمَ وَجْهَ الْيَهُودِيِّ فَذَهَبَ الْيَهُودِيُّ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَأَخْبَرَهُ بِمَا كَانَ مِنْ أَمْرِهِ وَأَمْرِ الْمُسْلِمِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تُخَيِّرُونِي عَلَى مُوسَى فَإِنَّ النَّاسَ يَصْعَقُونَ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُفِيقُ فَإِذَا مُوسَى بَاطِشٌ بِجَانِبِ الْعَرْشِ فَلَا أَدْرِي أَكَانَ فِيمَنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ قَبْلِي أَمْ كَانَ مِمَّنْ اسْتَثْنَى اللهُ

د ابو هريرهؓ نه روايت دے چه يو مسلمان او يهودى يو بل ته كنځل اوكړل. مسلمان اووے قسم دے په هغه ذات چا چه محمد ﷺ په ټول مخلوق كښ غوره كړے دے. يهودى اووے. قسم دے په هغه ذات چا چه حضرت موسیٰؑ لره غوره كړے دے په ټول مخلوق كښ. دغه وخت مسلمان لاس اوچت كړو او يهودى له ئے په مخ سپيړه وركړه. هغه يهودى د رسول الله ﷺ خواله لاړو او ټول حال ئےورته بيان كړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل ماله فضيلت مهٔ راكوئ په موسیٰؑ باندے. ولے چه خلق به بيهوشه شى او د ټولو نه مخكښ به زهٔ په هوش كښ راشم. زهٔ چه اوګورم نو حضرت موسیٰؑ به عرش نيولے وى. اوس زهٔ نهٔ پوهيږم چه هغه به بيهوشه شوے وى او ځما نه به مخكښ په هوش كښ راشى. يا الله تعالىٰ هغوى لره دهغه خلقو نه كړے دے چه هغه به نهٔ بيهوشه كيږى.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَرَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ بِمِثْلِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے ، يو مسلمان او يو يهودى په خپل مينځ كښ يو بل ته كنځل اوكړل. د ابراهيم بن سعد د

---

[1] حالانكه به حضرت يونس عليه السلام باندے د الله پاك عتاب راغلےوو په هغهٔ باندے هم د پيغمبرئ هغه شان دے چه دد ے متقابل يو عبادت نهٔ شى كيدے ددےحديث نه معلومه شوه چه د ولايت درجه د نبوت د درجے نه كمه ده. او يو ولیؒ هم د نبى درجے ته نهٔ شى رسيدلے او دا هم معلومه شوه چه د ټولو پيغمبرانو ذكر زيات د ادب او حرمت سره پكار دى. او د هيڅ يو پيغمبر سره بے ادبى كول كفر دے او د يو پيغمبر فضيلت د بل سره په مقابله كښ داسے نهٔ دى بيانول پكار چه د هغے نه توهين جوړ شى ورنه د ثواب په بدله به د كفر ښكار شى خنے جاهل شاعران داسے شعرونه په مدحو كښ وائى چه د هغے نه د نورو پيغمبرانو توهين رااوځى. توبه توبه داسے شعرونه لوستل او اوريدل دواړه حرام دى اگر چه زمونږ پيغمبر ﷺ په ټولو پيغمبرانو عليهم السلام كښ غوره دے خو بيا هم حضرت ﷺ د خپل فضيلت د بيانولو نه منع كړے ده په دے خيال سره چه جاهلان په فضيلت بيانولو بيانولو كښ د نورو پيغمبرانو عليهم السلام په شان كښ بے ادبى اونهٔ كړى. يا به دد ے وخته پورے حضرت ﷺ ته معلومه شوے نهٔ وه چه زهٔ د نورو پيغمبرانو نه افضل يم.

حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ

حديث پشان.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَاءَ يَهُودِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ قَدْ لُطِمَ وَجْهُهُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَلَا أَدْرِي أَكَانَ مِمَّنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ قَبْلِي أَوِ اكْتَفَى بِصَعْقَةِ الطُّورِ

د ابوسعید خدری نه روایت دے ، یو یهودی د رسول الله ﷺ خواله راغے دهغهٔ په مخ باندے سپیره وهلے شوے وه. حدیث د زهری د حدیث پشان ئے بیان کړو سوا دد ے نه چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُخَيِّرُوا بَيْنَ الْأَنْبِيَاءِ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى حَدَّثَنِي أَبِي

د ابوسعید نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ما له فضیلت مهٔ راکوئ په نورو پیغمبرانو کښ.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَيْتُ وَفِي رِوَايَةِ هَدَّابٍ مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي عِنْدَ الْكَثِيبِ الْأَحْمَرِ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي قَبْرِهِ

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. په کومه شپه چه ما ته معراج اوشو. زهٔ په حضرت موسیٰ باندے تیر شوم. ما هغه د سرے اوچتے ډهیرئ په خوا کښ اولیدهٔ او هغه ولاړ وو په خپل قبر کښ ئے مونځ کولو[1]

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى وَهُوَ يُصَلِّي فِي قَبْرِهِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ عِيسَى مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي

دحضرت انس نه روایت دے ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل . زهٔ په موسیٰ تیر شوم نو هغهٔ په خپل قبر کښ مونځ کولو. او د عیسیٰ (راوی) په حدیث کښ دا زیاته ده . زهٔ تیر شوم په هغه شپه په کومه شپه چه ځما معراج اوشو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ يَعْنِي اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لَا يَنْبَغِي لِعَبْدٍ لِي وَقَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى لِعَبْدِي أَنْ يَقُولَ أَنَا خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله تعالیٰ فرمائی چه ځما هیڅ یو بنده لره داسے نهٔ دی وئیل پکار چه زهٔ بهتر یم د یونس ځوئ د متّی نه. ابن ابی شیبه وائی محمد بن جعفر د شعبه نه روایت کړے دے.

---

[1] حالانکه آخرت دارلعمل نهٔ دے. مگر کیدے شی پیغمبرانو ته دا موقع ورکړے کیدے شی چه هغه د په دے عالم کښ هم په عبادت الهی کښ مصروف وی. دد ے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه ټول پیغمبران په دغه عالم کښ ژوندی دی. اگر کهٔ دا ژوند ددنیا دد ے ژوندون پشان نهٔ دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا يَنْبَغِي لِعَبْدٍ أَنْ يَقُولَ أَنَا خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى وَنَسَبَهُ إِلَى أَبِيهِ

د عبد الله بن [redacted] فرمائیلی دی هیچ یو بنده لره داسے نهٔ دی وئیل پکار چه زهٔ غوره یم د یونس بن متٰی نه متٰی د یونس د پلار نوم دے.

بَاب مِنْ فَضَائِلِ يُوسُفَ عَلَيْهِ السَّلَام

باب : د حضرت یوسف علیه السلام د لوئی والی بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ أَكْرَمُ النَّاسِ قَالَ أَتْقَاهُمْ قَالُوا لَيْسَ عَنْ هٰذَا نَسْأَلُكَ قَالَ فَيُوسُفُ نَبِيُّ اللهِ ابْنُ نَبِيِّ اللهِ ابْنِ نَبِيِّ اللهِ ابْنِ خَلِيلِ اللهِ قَالُوا لَيْسَ عَنْ هٰذَا نَسْأَلُكَ قَالَ فَعَنْ مَعَادِنِ الْعَرَبِ تَسْأَلُونِي خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقُهُوا

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه خلقو اووے یا رسول الله ﷺ په تولو خلقو کښې بزرګی چا لره ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك چه د الله نه ډیر یریږی. هغوی اووے مونږ دا تپوس نهٔ کوو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو په تولو کښې بزرګ حضرت یوسف ؑ دے د الله نبی او د نبی خوئ د خلیل الله نمسے. هغوی اووے مونږ دا تپوس نهٔ کوو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو تاسو دعربو د قبیلو تپوس کوئ بهتر هغه خلق دی د عربو د اسلام په زمانه کښې چه کوم بهتر وو هر کله چه په دین کښې پوهه حاصله کړی.

بَاب فِي فَضَائِلِ زَكَرِيَّاءَ عَلَيْهِ السَّلَام

باب : د حضرت زکریّا علیه السلام د غوروالی بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ كَانَ زَكَرِيَّاءُ نَجَّارًا

د ابوهریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه حضرت زکریا علیه السلام ترکان وو[1].

بَاب مِنْ فَضَائِلِ الْخَضِرِ عَلَيْهِ السَّلَام

باب : د حضرت خضر علیه السلام فضیلت

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ نَوْفًا الْبِكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام صَاحِبَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَيْسَ هُوَ مُوسَى صَاحِبَ الْخَضِرِ عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ

د حضرت جبیر ؓ نه روایت دے چه ما عبد الله بن عباس ؓ ته اووے چه نوف بکالی وائی حضرت موسیٰ ؑ چه د بنی اسرائیلو پیغمبر وو هغه بل دے او کوم موسیٰ چه د خضر علیه السلام سره تلے وو هغه بل دے. هغوی اووے دروغ وائی د الله دشمن. ما د اُبیّ بن

---

[1] معلومه شوه چه د ترکانړئ کسب ډیر غوره دے او افضل دغه ده چه انسان محنت اوکړی او اوخوری حضرت داؤد علیه السلام به هم د محنت روزی خوړله

كَذَبَ عَدُوُّ اللهِ سَمِعْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَامَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ فَسُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ فَقَالَ أَنَا أَعْلَمُ قَالَ فَعَتَبَ اللهُ عَلَيْهِ إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ أَنَّ عَبْدًا مِنْ عِبَادِي بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ قَالَ مُوسَى أَيْ رَبِّ كَيْفَ لِي بِهِ فَقِيلَ لَهُ احْمِلْ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ فَحَيْثُ تَفْقِدُ الْحُوتَ فَهُوَ ثَمَّ فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقَ مَعَهُ فَتَاهُ وَهُوَ يُوشَعُ بْنُ نُونٍ فَحَمَلَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام حُوتًا فِي مِكْتَلٍ وَانْطَلَقَ هُوَ وَفَتَاهُ يَمْشِيَانِ حَتَّى أَتَيَا الصَّخْرَةَ فَرَقَدَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام وَفَتَاهُ فَاضْطَرَبَ الْحُوتُ فِي الْمِكْتَلِ حَتَّى خَرَجَ مِنَ الْمِكْتَلِ فَسَقَطَ فِي الْبَحْرِ قَالَ وَأَمْسَكَ اللهُ عَنْهُ جِرْيَةَ الْمَاءِ حَتَّى كَانَ مِثْلَ الطَّاقِ فَكَانَ لِلْحُوتِ سَرَبًا وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا وَلَيْلَتِهِمَا وَنَسِيَ صَاحِبُ مُوسَى أَنْ يُخْبِرَهُ فَلَمَّا أَصْبَحَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا قَالَ وَلَمْ يَنْصَبْ حَتَّى جَاوَزَ الْمَكَانَ الَّذِي أُمِرَ بِهِ قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي

کعبؓ نه اوریدلی دی. هغهٔ وئیل چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. حضرت موسیٰؑ په بنی اسرائیلو کښې خطبې لوستو ته اودریدو. دهغوی نه تپوس اوشو چه په خلقو کښې زیات علم چاته دے؟ هغوی اووے ما ته دے (دا خبره الله ته غوره نهٔ شوه) الله په هغوی باندے عتاب اوکړو. ددے وجې نه چه هغوی دا اونهٔ وے چه اللهؑ بنه پوهیږی. بیا الله تعالیٰ هغوی ته وحی رااولیږله. چه څما یو بنده دے د دوو دریابونو د میلاویدو په ځائے کښې هغه ستا نه زیات عالم دے. حضرت موسیٰؑ عرض اوکړو اے پروردګاره! زهٔ به د هغهٔ سره څنګه میلاؤ شم. حکم اوشو چه یو مهے کیږده په زمبیل کښې کوم ځائے چه هغه مهے ورک شی هلته به درته هغه بنده میلاویږی. ددے په اوریدو حضرت موسیٰؑ یوشع بن نون د ځان سره کړو اولاړو. او هغوی یو مهے په زنبیل کښې کیښودو. دواړه تلل تلل چه صخره (یو مقام دے) اورسیدل هلته موسیٰؑ اودهٔ شو او: هغهٔ ملګرے هم اودهٔ شو مهے ژوندے شو تردے پورے چه د زنبیل نه رااووتو او دریاب ته پریوتو. او الله تعالیٰ د اوبو بهیدل په هغهٔ باندے اودرول تردے پورے چه اوبهٔ اودریدے او د چم پشان شوے او د مهی د پاره لاره اوچه شوه. د حضرت موسیٰؑ هغه ملګرے حیران شو بیا دواړه لاړل توله ورځ او توله شپه. نو موسیٰؑ خپل ملګری ته اووے. ناشته زمونږ راوړه په دے سفر سره خو مونږ ستړی شو. او ستړی د هغه وخت نه هر کله چه د هغه ځائے نه مخکښې لاړو چرته چه د تلو حکم شوےوو. هغوی اووے تا ته معلومه نهٔ ده هر کله چه مونږ په صخره باندے د مه کوله نو مهے مو هیر شو او شیطان زمونږ نه

نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهُ إِلاَّ الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا قَالَ مُوسَى ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا قَالَ يَقُصَّانِ آثَارَهُمَا حَتَّى أَتَيَا الصَّخْرَةَ فَرَأَى رَجُلًا مُسَجًّى عَلَيْهِ بِثَوْبٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ مُوسَى فَقَالَ لَهُ الْخَضِرُ أَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلَامُ قَالَ أَنَا مُوسَى قَالَ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ نَعَمْ قَالَ إِنَّكَ عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللهِ عَلَّمَكَهُ اللهُ لاَ أَعْلَمُهُ وَأَنَا عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللهِ عَلَّمَنِيهِ لاَ تَعْلَمُهُ قَالَ لَهُ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَى مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا قَالَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا قَالَ لَهُ الْخَضِرُ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا قَالَ نَعَمْ فَانْطَلَقَ الْخَضِرُ وَمُوسَى يَمْشِيَانِ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ فَمَرَّتْ بِهِمَا سَفِينَةٌ فَكَلَّمَاهُمْ أَنْ يَحْمِلُوهُمَا فَعَرَفُوا الْخَضِرَ فَحَمَلُوهُمَا بِغَيْرِ نَوْلٍ فَعَمَدَ الْخَضِرُ إِلَى لَوْحٍ مِنَ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ فَنَزَعَهُ فَقَالَ لَهُ مُوسَى قَوْمٌ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ

هير كړو . حيران يم چه هغه مهى په درياب كښې لاړ اونيوه حضرت موسىٰؑ اووے مونږ خو دغه مقام تلاش كولو بيا دواړه د خپلو خپو په نخښو واپس شو تردےپورے چه صخره ته اورسيدو. هلته ئے يو سړے په كپړه كښې پټ اوليدو حضرت موسىٰؑ هغوى ته سلام اوكړو. هغوى اووے ستاسو په ملك كښې سلام چرته دے. حضرت موسىٰؑ اووے زهٔ موسىٰ يم. هغوى اووے د بنى اسرائيلو موسىٰؑ حضرت موسىٰؑ اووے آو. حضرت خضرؑ اووے تاته الله هغه علم دركړےدے چه په هغے زهٔ نهٔ پوهيږم. او ما ته ئے هغه علم راكړے دے چه په هغے تهٔ نهٔ پوهيږے. حضرت موسىٰؑ اووے زهٔ ستا سره اوسيدل غواړم ځكه چه ماته اوښائے هغه علم چه تاته دركړے شوےدے. حضرت خضرؑ اووے تهٔ به ځما سره صبر اونهٔ كړے شے. او تهٔ به څنګه صبر اوكړے په هغه خبره باندے چه ته پرےپوهه نهٔ ئے. حضرت موسىٰؑ اووے كهٔ الله غواړى نو تهٔ به ما لره صبر كونكے اومومے. او په هيڅ خبره كښې به ستا نافرمانى اونهٔ كړم.حضرت خضرؑ اووے بنه ده كهٔ ځما سره ملګرے كيږے نو ځما نه به د څهٔ خبرے تپوس نهٔ كوے. د كومےپورے چه ما پخپله د هغےذكر نهٔ وى كړے. حضرت موسىٰؑ اووے ډيره بنه ده. او حضرت خضرؑ او حضرت موسىٰؑ دواړه د سند په غاړه روان وو. پس تير شو دا دواړه په يوه كشتئ باندے. دواړو كشتئ والاؤ ته اووے. مونږ په دےكشتئ كښې سوارهٔ كړه . هغوى خضرؑ لره اوپيژندو. او دواړه ئے بغير د كرائے نه او خيژول . حضرت خضرؑ د هغه كشتئ نه يوه تخته اوويسته. حضرت موسىٰؑ ورته اووے. دغه خلقو مونږ بغير د

فَخَرَقَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ثُمَّ خَرَجَا مِنَ السَّفِينَةِ فَبَيْنَمَا هُمَا يَمْشِيَانِ عَلَى السَّاحِلِ إِذَا غُلَامٌ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ فَاقْتَلَعَهُ بِيَدِهِ فَقَتَلَهُ فَقَالَ مُوسَى أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَاكِيَةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ وَهَذِهِ أَشَدُّ مِنَ الْأُولَى قَالَ إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي عُذْرًا فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ يَقُولُ مَائِلٌ قَالَ الْخَضِرُ بِيَدِهِ هَكَذَا فَأَقَامَهُ قَالَ لَهُ مُوسَى قَوْمٌ أَتَيْنَاهُمْ فَلَمْ يُضَيِّفُونَا وَلَمْ يُطْعِمُونَا لَوْ شِئْتَ لَتَخِذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْحَمُ اللهُ مُوسَى لَوَدِدْتُ أَنَّهُ كَانَ صَبَرَ حَتَّى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَخْبَارِهِمَا قَالَ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتِ الْأُولَى مِنْ مُوسَى نِسْيَانًا

کرایۍ نه پورے ویستو او تاسو ورله کشتۍ ما ته کړه دپاره ددے چه غرق شی سوارۀ ددےدا تاسو لوئے کار اوکړو. حضرت خضر اووےما تاته نۀ وو وئیلی چه تۀ به خما سره صبر اونۀ کړے شے. حضرت موسیٰ اووے په هیر ما باندے مۀ نیسه. او په ما باندے تنګی مۀ کوه. بیا دواړه د کشتۍ نه رابهر شو او د سمندر په غاړه روان وو. په دے کښې ئے یو هلك اولیدو چه د نورو هلکانو سره ئے لوبے کولے. حضرت خضر د هغۀ سر اونیو او مړ ئے کړو. حضرت موسیٰ اووے تا یو بے ګناه لره په ناحقه اووژلو دا دِ ډیر بدکار اوکړو. حضرت خضر اووے ما تا ته نۀ وو وئیلی چه تۀ به خما سره صبر او نۀ کړے شے.اودا کار د مخکښې کار نه هم زیات سخت وو. حضرت موسیٰ اووے. پس له دے کچرے ما ستا په یوه خبره هم اعتراض اوکړو نو خما ملګرتیا یریږدوه. بیشکه ستا عذر په ځائے دے. بیا دواړه روان وو. تردے پورے چه یو کلی ته اورسیدو او د کلی د خلقو نه ئےغله اوغوښته هغوی انکار اوکړو ددوی د میلمستیانه. بیائے یو دیوال اولیدو چه غورځیدو ته نژدے وو راکوږ شوے وو. حضرت خضر په خپل لاس سره هغه نیغ کړو. حضرت موسیٰ ورته اووے ددے کلی والاؤ نه مونږ غله اوغوښته. دوی انکار اوکړو او غله ئےرا باندے او نۀ خوروله (دداسے خلقو کار مفت کول څۀ ضروری وو) کچرے تا غوښتے نو ددے مزدوری به دِ ترے اخستے وه.حضرت خضر اووے بس اوس جدائی ده خما او ستا په مینځ اوس زۀ تا ته ددے تیرو خبرو راز بیا نوم په کومے باندے چه ستا نه صبر او نۀ کړے شو.رسول الله ﷺ اوفرمائیل رحم د اوکړی الله تعالی په موسیٰ باندے خما

قَالَ وَجَاءَ عُصْفُورٌ حَتّٰى وَقَعَ عَلٰى حَرْفِ السَّفِينَةِ ثُمَّ نَقَرَ فِي الْبَحْرِ فَقَالَ لَهُ الْخَضِرُ مَا نَقَصَ عِلْمِي وَعِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللهِ إِلاَّ مِثْلَ مَا نَقَصَ هٰذَا الْعُصْفُورُ مِنَ الْبَحْرِ قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ وَكَانَ يَقْرَأُ وَكَانَ أَمَامَهُمْ مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ صَالِحَةٍ غَصْبًا وَكَانَ يَقْرَأُ وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ كَافِرًا

خواهش دے چه هغه صبر کړے وے او نورے خبرے ئے لیدلے وے او مونږ ته ئے اوروَلے وے. او حضرت ﷺ فرمائیلي دي چه رومبئ خبره حضرت موسیٰؑ په هیره سره کړے وه. بیا یوه چړچنړه راغله او د کشتئ په غاړه کیښناسته او په سمندر کښې ئے مخوکه ښکته کړه. حضرت خضرؑ اووے ما او تا د الله د علم نه بس دومره علم ایزده کړےدے څومره چه د دے چړچنړے د سمندر نه اوبۀ په مښوکه کښې کمے کړے دي. سعید بن جبیرؒ وائي چه ابن عباسؓ لوستلو دے ایت لره چه د هغه کشتئ والاؤ نه مخکښې یو بادشاه وو چه هغه به جوړے کشتئ د خلقو نه په زور اخستے او هغه هلك کافر وو[1].

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قِيلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ نَوْفًا يَزْعُمُ أَنَّ مُوسٰى الَّذِي ذَهَبَ يَلْتَمِسُ الْعِلْمَ لَيْسَ بِمُوسٰى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ أَسَمِعْتَهُ يَا سَعِيدُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ كَذَبَ نَوْفٌ

د سعید بن جبیرؒ نه روایت دے چه حضرت ابن عباسؓ ته اووئیلی شو چه نوف دا وائي چه کوم موسیٰؑ د حضرت خضرؑ نه د علم ایزده کولو دپاره تلےوو هغه د بنی اسرائیلو موسیٰ نۀ وو. ابن عباسؓ اووے تا د هغۀ نه داسے اوریدلی دی اے سعیده ما اووے آو. ابن عباسؓ اووے نوف د روغژن دے.

---

[1] مراد د هغه بنده نه خضر علیه السلام دے. د جمهور علماؤ مذهب دادے چه هغه ژوندے دے. د صوفیؤ او د اهل صلاح او معرفت په دےباندے اتفاق دے. او هغه خلق د هغوی سره میلاؤ شوی‌دی او سوال‌ئے کړے دے. او څنے محدثینو د هغوی د ژوندون نه انکار کړےدے او اختلاف‌ئے کړے دے چه هغه پیغمبر دے یا نۀ دے. لیکن بنیادم دے او څنے وائي چه فرښتے دی خو دا قول باطل دے. ثعلبی وائي چه خضر یو پیغمبر دے عمر والاد خلقو د نظر نه پټ کړے شوے. خلقو وئیلی دی چه هغه به په آخره زمانه کښې وفات کیږی هر کله چه قران پورته کړےشی. او د ابراهیم په زمانه کښې وو یا د هغې نه روستو د هغۀ کنیت ابوالعباس دے. او د هغۀ نوم بلیابن ملکان دے یا کلیان وهب بن منبه وئیلی دی چه د هغۀ نوم او نسب دادے کلیان بن ملکان بن قانع بن عابر بن شانح ارفخشد بن سام بن نوح او د هغوی پلار د بادشاهانو نه وو. او خضر د هغۀ لقب څکه شوے دے چه هغۀ به په یوه شاړه زمکه باندے کیښناستو نو دهغۀ د کیښناستو د برکت په وجه به هغه زمکه زرخیزه شوه. انتهٰی ما قال النووی.

د هغه دیوال لاندے د یتیمانو مال وو غرض دا چه حضرت خضر ټول کارونه د الله په حکم اوکړل نۀ پخپل رائے سره او د الله په حکم وینه تویول هم صحیح دی. ؎ اگر خون بفتوی بریزی رواست. او د حضرت موسیٰ اعتراض د شرعے ظاهرے د مخ نه وو او هغه هم صحیح دے.

حَدَّثَنَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهُ بَيْنَمَا مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام فِي قَوْمِهِ يُذَكِّرُهُمْ بِأَيَّامِ اللهِ وَأَيَّامُ اللهِ نَعْمَاؤُهُ وَبَلَاؤُهُ إِذْ قَالَ مَا أَعْلَمُ فِي الْأَرْضِ رَجُلًا خَيْرًا وَأَعْلَمَ مِنِّي قَالَ فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ إِنِّي أَعْلَمُ بِالْخَيْرِ مِنْهُ أَوْ عِنْدَ مَنْ هُوَ إِنَّ فِي الْأَرْضِ رَجُلًا هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ قَالَ يَا رَبِّ فَدُلَّنِي عَلَيْهِ قَالَ فَقِيلَ لَهُ تَزَوَّدْ حُوتًا مَالِحًا فَإِنَّهُ حَيْثُ تَفْقِدُ الْحُوتَ قَالَ فَانْطَلَقَ هُوَ وَفَتَاهُ حَتَّى انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَعُمِّيَ عَلَيْهِ فَانْطَلَقَ وَتَرَكَ فَتَاهُ فَاضْطَرَبَ الْحُوتُ فِي الْمَاءِ فَجَعَلَ لَا يَلْتَئِمُ عَلَيْهِ صَارَ مِثْلَ الْكُوَّةِ قَالَ فَقَالَ فَتَاهُ أَلَا أَلْحَقُ نَبِيَّ اللهِ فَأُخْبِرَهُ قَالَ فَنُسِّيَ فَلَمَّا تَجَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا قَالَ وَلَمْ يُصِبْهُمْ نَصَبٌ حَتَّى تَجَاوَزَا قَالَ فَتَذَكَّرَ قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهُ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا قَالَ ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا فَأَرَاهُ مَكَانَ الْحُوتِ قَالَ هَا هُنَا وُصِفَ لِي قَالَ

حديث بيان كړے دے مونږ ته اُبی بن كعب هغوی وائی ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو هر كله چه موسیٰؑ په خپل قوم كښې نصیحت كولو خلقو ته د الله تعالی د نعتونو او بلا نه هغوی نا څاپه دا اووے. زهٔ نهٔ پوهیږم چه په توله دنیا كښې د یو سړے څما نه ښهٔ غوره او زیات عالم وی. الله هغوی ته په وحی سره اووے چه زهٔ پیژنم هغه سړی لره په زمكه كښې چه ستا نه ډیر ښهٔ او عالم دے. حضرت موسیٰؑ عرض اوكړو اے څما مالكه ما د هغهٔ سره میلاؤ كړه. حكم ورته اوشو چه ښه ده یو مهے مالگه شوے د توښې دپاره د خان سره واخله چرته چه دغه مهے ورك شی هلته به درته هغه سړے میلاؤ شی. ددے خبرے په اوریدو موسیٰؑ او د هغهٔ ملگرے روان شو تر دے پورے چه صخره ته اورسیدل . هلته ورته هیڅوك میلاؤ نهٔ شو. حضرت موسیٰؑ مخكښې لاړو او خپل ملگرے ئے پریښودهٔ نا څاپه هغه مهے اوخوزیدو او اوبو ته ئے ورټوپ كړو او اوبو یو ځائے كیدل او بهیدل پریښودهٔ. بلكه په هغه مهی باندے د یو طاخ پشان شوے. د حضرت موسیٰؑ ملگری اووے خبردار! زهٔ د الله د نبی سره چه میلاؤ شم نو هغهٔ ته به دا حال اووایم بیا دهغهٔ (چه د موسیٰؑ سره میلاؤ شو لیكن) دا حال وئیل ئے هیر شو. هر كله چه مخكښې لاړل نو حضرت موسیٰؑ هغهٔ ته اووے . زمونږ هغه ناشته راوړه. په دے سفر سره خو مونږ ډیر ستړی شو. راوی وائی هغوی نهٔ وو ستړی شوی د كومے پورے چه دهغه مقام نه مخكښې تلی نهٔ وو. بیا د هغهٔ ملگری په فریاد سره اووئیل چه تا ته معلومه نهٔ ده چه هر كله مونږ صخره ته راورسیدو نو هلته څما مهے هیر شو او د شیطان نه علاوه بل هیچا څما نه نهٔ دے هیر كړے او حیران یم چه هغه مهی په دریاب كښې لاړ اونیوه. حضرت موسیٰؑ اووے دغه

فَذَهَبَ يَلْتَمِسُ فَإِذَا هُوَ بِالْخَضِرِ مُسَجًّى ثَوْبًا مُسْتَلْقِيًا عَلَى الْقَفَا أَوْ قَالَ عَلَى حَلَاوَةِ الْقَفَا قَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَكَشَفَ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ قَالَ وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ مَنْ أَنْتَ قَالَ أَنَا مُوسَى قَالَ وَمَنْ مُوسَى قَالَ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ مَجِيءٌ مَا جَاءَ بِكَ قَالَ جِئْتُ لِتُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَى مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا شَيْءٌ أُمِرْتُ بِهِ أَنْ أَفْعَلَهُ إِذَا رَأَيْتَهُ لَمْ تَصْبِرْ قَالَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ خَرَقَهَا قَالَ انْتَحَى عَلَيْهَا قَالَ لَهُ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا لَقِيَا غِلْمَانًا يَلْعَبُونَ قَالَ فَانْطَلَقَ إِلَى أَحَدِهِمْ بَادِيَ الرَّأْيِ فَقَتَلَهُ فَذُعِرَ عِنْدَهَا مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام ذَعْرَةً مُنْكَرَةً قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَاكِيَةً بِغَيْرِ نَفْسٍ

ځائے خو مونږ غوښتلو. بیا د خپلو قدمونو په نخښو لیدو سره واپس شو او ملګری ئے ورته ځائے ده‌ی اوښودلو او حضرت موسیٰؑ تلاش شروع کړو. ناڅاپه هغوی حضرت خضرؑ اولیدو چه یوه کپړه ئے اغوستے وه او نیغ ملاست وو (نیغ یعنی د یوے ډډے په طرف کوږ شوے نه وو) حضرت موسیٰؑ اووے السلام علیکم هغوی د خپل مخ نه کپړه لرے کړه او اوئے وئیل وعلیکم السلام ته څوك ئے. حضرت موسیٰؑ اووے زهٔ موسیٰ یم. هغوی اووے څنګه راغلے؟ حضرت موسیٰؑ اووے څکه راغلم چه ته د خپل علم نه ماته څهٔ ایزده کړے. هغوی اووے ته به څما سره صبر او نهٔ کړے شے او څنګه به صبر اوکړے په هغه خبره باندے چه د هغے تا ته علم نهٔ وی پس کچرے تهٔ صبر او نهٔ کړے نو ما ته اوښایه زهٔ څهٔ اوکړم. حضرت موسیٰؑ اووے کچرے الله ته منظوره وی نو ما به صبر کونکے اومومے. او زهٔ به ستا خلاف هیڅ یو کار نهٔ کوم. حضرت خضرؑ اووے ښه ده کچرے تهٔ څما سره ئے نو د څهٔ خبرے تپوس به څما نه نهٔ کوے د کومے پورے چه ما پخپله د هغے ذکر نهٔ وی کړے. بیا دواړه روان شو تردے پورے چه په یوه کشتئ کښ سوارهٔ شول. حضرت خضرؑ د هغے کشتئ تخته ما ته کړه یائے ماتول غوښتلو. حضرت موسیٰؑ ورته اووے تا کشتئ ماته کړه ددے دپاره چه کشتئ والا ډوب شی تا دا ډیر دروند کار اوکړو. حضرت خضرؑ اووے ما تا ته نهٔ وو وئیلی چه تهٔ به څما سره صبر او نهٔ کړے شے. حضرت موسیٰؑ اووے هیر مے شو مواخذه مهٔ اخله څما نه او مهٔ سختی کوه په ما باندے. بیا دواړه روان وو په یو ځائے کښ بچو لوبے کولے. حضرت خضرؑ بے سوچه او بے سوخته یو بچی لره قتل کړو. حضرت موسیٰؑ ددے په لیدو ډیراویریدهٔ او اوئے فرمائیل تا د یو بے ګناه په

لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ هٰذَا الْمَكَانِ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْنَا وَعَلَى مُوسَى لَوْلَا أَنَّهُ عَجَّلَ لَرَأَى الْعَجَبَ وَلٰكِنَّهُ أَخَذَتْهُ مِنْ صَاحِبِهِ ذَمَامَةٌ قَالَ إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي عُذْرًا وَلَوْ صَبَرَ لَرَأَى الْعَجَبَ قَالَ وَكَانَ إِذَا ذَكَرَ أَحَدًا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ بَدَأَ بِنَفْسِهِ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْنَا وَعَلَى أَخِي كَذَا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْنَا فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ لِئَامًا فَطَافَا فِي الْمَجَالِسِ فَاسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ وَأَخَذَ بِثَوْبِهِ قَالَ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ فَإِذَا جَاءَ الَّذِي يُسَخِّرُهَا وَجَدَهَا مُنْخَرِقَةً فَتَجَاوَزَهَا فَأَصْلَحُوهَا بِخَشَبَةٍ وَأَمَّا الْغُلَامُ فَطُبِعَ يَوْمَ طُبِعَ كَافِرًا وَكَانَ أَبَوَاهُ قَدْ عَطَفَا عَلَيْهِ فَلَوْ أَنَّهُ أَدْرَكَ أَرْهَقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا فَأَرَدْنَا أَنْ يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِنْهُ زَكَاةً

ناحقه قتل اوکړو. دا دِ ډیر بدکاراوکړو رسول الله ﷺ په دے مقام باندے اوفرمائیل الله تعالی دِ رحم اوکړی په مونږ او په موسیٰؑ باندے. کچرے هغه تادی نه وے کړے نو ډیرے ناشنا خبرے به ئے لیدلے وے. لیکن هغوی ته د حضرت خضرؑ نه شرم ورغے. او هغوی اووے اوس کچرے ما د یوے خبرے ستا نه تپوس اوکړو نو خما ملګرتیا پرېږدوه. بیشکه ستا عذر واجبی دے او کچرے موسیٰؑ صبر کړے وَے نو نورے عجیبه عجیبه خبرے به ئے لیدلے وے او حضرت ﷺ چه به کله د یو پیغمبر ذکر کوو نو داسے به ئے فرمائیل الله تعالی دِ رحمت اوکړی په مونږ باندے او زمونږ په فلانی رور باندے. د الله رحمت دِ وی په مونږ باندے. خیر بیا دواړه روان شو تر دے پورے چه یو کلی ته اورسیدل د هغه ځائے خلق ډیر بخیلان وو. دا دواړه په ټولو مجلسونو کښں اوګرځیدو او غله ئے اوغوښته نو هیچاځائے میلمستیا او نه کړه بیا هغوی هلته یو دیوال اوموندو چه غورځیدو ته نږدے شوے وو. حضرت خضرؑ هغه نیغ کړو. حضرت موسیٰؑ اووے کچرے ته غواړے نو ددے مزدوری ترے واخله حضرت خضرؑ اووے بس دا جدائی ده خما او ستا په مینځ کښں. او د حضرت موسیٰؑ کپړه ئے اونیوه او ورته ئے اووے زۀ تاته د هغۀ خبرو راز وایم په کومو چه ته صبر نه شوے. کشتئ خو د هغه مسکینانو وه چه په دریاب کښں به ئے پرے مزدوری کوله او د هغوی نه مخے ته یو بادشاه وو چه هغۀ به کشتئ په زور نیولے ما اوغوښتل چه دا کشتئ عیب داره کړم نو هر کله چه بیګار نیولو والاراغے نو هغۀ ئے د عیب په وجه پریښوده هغه کشتئ مخکښں لاړه او د کشتئ مالکانو پکښں یو لرګے اولګوو هغۀ ئے صحیح کړه او ما شوم کافر جوړیدۀ. د هغۀ پلار مور په هغه ډیر مئین وو کچرے هغه

وَأَقْرَبَ رُحْمًا وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ

عَنْ أَبِي إِسْحَقَ نَحْوَ حَدِيثِهِ

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ لَتَخِذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالْحُرُّ بْنُ قَيْسِ بْنِ حِصْنٍ الْفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ الْخَضِرُ فَمَرَّ بِهِمَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْصَارِيُّ فَدَعَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ يَا أَبَا الطُّفَيْلِ هَلُمَّ إِلَيْنَا فَإِنِّي قَدْ تَمَارَيْتُ أَنَا وَصَاحِبِي هَذَا فِي صَاحِبِ مُوسَى الَّذِي سَأَلَ السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ فَهَلْ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ شَأْنَهُ فَقَالَ أُبَيٌّ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بَيْنَمَا مُوسَى فِي مَلَإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْكَ قَالَ مُوسَى لَا فَأَوْحَى اللهُ إِلَى مُوسَى بَلْ عَبْدُنَا الْخَضِرُ قَالَ فَسَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ فَجَعَلَ اللهُ لَهُ الْحُوتَ آيَةً وَقِيلَ لَهُ إِذَا افْتَقَدْتَ الْحُوتَ فَارْجِعْ فَإِنَّكَ سَتَلْقَاهُ فَسَارَ مُوسَى مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَسِيرَ ثُمَّ قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا

لوئے شوے وے نو خپل پلار او مور به ئے هم په شرارت او کفر کښې اخته کړی وو خکه موږ غوښتل چه الله تعالی به دوی له بل ماشوم په بدل کښې ورکړی چه هغه به ددۀ نه غوره وی او ددۀ نه به زیات مهربان وی او دیوال خو د دوو یتیمانانو وو په ښهر کښې د آخره پورے

د ابو اسحاق نه د پورتنی حدیث پشان مروی دے

د ابی بن کعب نه روایت دے رسول الله ﷺ اولستو په قرآن کښې لَتَخِذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا

د عبد الله بن عباس رضی نه روایت دے چه هغوی او حُر بن قیس جهګړه اوکړه د موسیٰ د ملګری په باره کښې. ابن عباس اووے هغه حضرت خضر وو. بیا هلته ابی بن کعب رااووتو نو ابن عباس هغۀ لره راواوغوښتو او ورته ئے اووے اے ابوطفیل دے خوا راشه زۀ او دے جهګړه کوو د موسیٰ د ملګری په باره کښې د چا سره چه هغوی میلاویدل غوښتو نو تاسو د رسول الله ﷺ نه ددے په باره کښې څۀ اوریدلی دی ابی اووے مااوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو چه یو ځل موسیٰ د بنی اسرائیلو په یو جماعت کښې ناست وو. په دے کښې یو سړے راغے او تپوس ئے اوکړو چه ته چرته یو سړی لره د خپل ځان نه زیات عالم هم پیژنې. موسیٰ اووے نه پس الله تعالی هغوی ته وحی راالولیږله چه خمابنده خضر ستاسو نه زیات عالم دے. حضرت موسیٰ د هغوی سره میلاویدل اوغوښتل. الله تعالی ورته د یو مهی نخښه مقرر کړه او حکم اوشو چه هر کله درنه مهے ورك شو نو واپس شه نو د هغه بنده سره به میلاؤ شے. بیا حضرت موسیٰ لاړو چرته چه الله ته منظور وه. روستو د هغے نه ئے خپل ملګری ته اووے. ناشته راوړه. هغۀ اووے

غداءنا فقال فتی موسی حین سأله الغداء ارأیت إذ أوینا إلی الصخرة فإني نسیت الحوت وما أنسانیه إلا الشیطان أن أذکره فقال موسی لفتاه ذلك ما کنا نبغي فارتدا علی آثارهما قصصا فوجدا خضرا فکان من شأنهما ما قص الله في کتابه إلا أن یونس قال فکان یتبع أثر الحوت في البحر

تا ته معلومه نه ده هر کله چه مونږ صخره ته راورسیدو نو مهے مو هیر شو او شیطان زمونږ نه د هغے یادول هیر کړو حضرت موسیٰ اووے دغه خائے خو مونږ غوښتلو بیا دواړه د خپلو قدمونو په نخښو باندے واپس شو او د حضرت خضرؑ سره میلاؤ شو بیا چه څۀ حال تیر شو هغه د الله په کتاب کښې موجود دے. د یونس په روایت کښې دي چه د مهی نخښنه کوم سمندر کښې وه په هغے باندے واپس شو

باب من فضائل أبي بکر الصدیق

باب : د حضرت ابوبکر صدیق د بزرګئ بیان[1]

عن أبي بکر الصدیق حدثه قال نظرت إلی أقدام المشرکین علی رءوسنا ونحن في الغار فقلت یا رسول الله لو أن أحدهم

د ابوبکر صدیقؓ نه روایت دے وائی چه ما د مشرکانو خپے اولیدے پخپلو سرونو باندے او مونږ په غار کښې وو. ما عرض اوکړو چه یا رسول الله! کچرے په دوی کښې یو تن د خپلوقدمونو

امام عبد الله مزاریؒ وائی اختلاف کړے دے خلقو د صحابو په تفضیل کښې په یو بل باندے. څنو وئیلی دی مونږ به هغوی کښې هیڅ یو لره په بل باندے فضیلت نۀ ورکوؤ. او جمهور علماء د تفضیل قائل دی بیا هغوی اختلاف کړے دے. اهل سنت دا وائی فضل به دے ټولو کښې ابوبکر صدیق وو او خطابیه وائی چه افضل حضرت عمر وو. او راوندیه دا وئیلی دی چه حضرت عباس او شیعه دا وائی چه افضل په دوی ټولو کښې حضرت علی وو لیکن اهل سنتو اتفاق کړے دے په دے باندے چه افضل په صحابؤ کښې ابوبکر صدیق دے بیا عمر او د اکثرو اهل سنتو په نیز بیا عثمان بیا علیؓ. او څنے اهل سنتو حضرت علی لره په حضرت عثمان باندے مقدم کړے دے او صحیح مشهور د عثمانؓ تقدیم دے ابو منصور بغدادی وئیلی دی د دے خلورو خلفاؤ نه پس باقی عشره مبشره دی بیا اهل بدر او بیا اهل أحد بیا بیعت الرضوان والا.

قاضی عیاض وئیلی دی د بعضو دا قول دے چه کوم صحابه د حضرتؐ په ژوند کښې تیر شوی دی هغه د هغوی نه افضل دی کوم چه روستو ژوندی د حضرتؐ نه روستو پاتے دی. لیکن دا قول مقبول نۀ دے او دا فضیلت قطعی دے یا ظنی. په ظاهر او باطن دواړو کښې دی یا صرف په ظاهر کښې په دے په دے کښې اختلاف دے. او په دے کښې هم اختلاف دے چه په حضرت عائشه او خدیجه کښې کومه یوه افضله ده. او په عائشه او فاطمه کښې. او خلافت د حضرت عثمان صحیح دے بالاجماع او هغوی مظلوم شهید شوے دے چه قاتلان ئے فساق او اراذل وو. په دے شان د حضرت علیؓ خلافت بالاجماع صحیح دے. او په خپل وخت کښې هغه خلیفه وو. د هغه نه سوا څوك خلیفه نۀ وو. او معاویه د صحابو نه دے. او د هغوی جنګ په شبه او اجتهاد باندے مبنی وو کوم لره ئے هغه صحیح ګنړلو د دے وجے څنے او جنګیدو او څنے جدا پاتے شو بهر حال ټول صحابه عدول دی او د هغوی شهادت او روایت مقبول دے. (نووی مختصراً)

نظر إلی قدميه أبصرنا تحت قدميه فقال يا أبا بكر ما ظنك باثنين الله ثالثهما

په طرف اوګوري نو موږ به اووينی حضرت ﷺ اوفرمائيل اے ابوبکره ستا څۀ خيال دے په هغه دواړو باندے د چا سره چه دريم الله دے[1].

عن أبي سعيد أن رسول الله صلى الله عليه وسلم جلس على المنبر فقال عبد خيره الله بين أن يؤتيه زهرة الدنيا وبين ما عنده فاختار ما عنده فبكى أبو بكر وبكى فقال فديناك بآبائنا وأمهاتنا قال فكان رسول الله صلى الله عليه وسلم هو المخير وكان أبو بكر أعلمنا به وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن أمن الناس علي في ماله وصحبته أبو بكر ولو كنت متخذا خليلا لاتخذت أبا بكر خليلا ولكن أخوة الإسلام لا تبقين في المسجد خوخة إلا خوخة أبي بكر

د ابوسعيدؓ نه روايت دے چه يوه ورځ رسول اللهﷺ په منبر باندے کينبناستو او اوئے فرمائيل. چه د الله تعالی يو بنده دے چه هغه له الله پاك اختيار ورکړے دے کۀ غواړی نو ددنيا دولت د واخلی او کۀ غواړی نو د الله تعالی سره د اوسيدل اختيار کړی. ددے په اوريدو سره ابوبکر صديقؓ په ژړا شو (پوهه شو چه د حضرتؐ وفات نزدے، او بنه ئے اوژړل. بيائے اووے چه زموږ پلار نيکۀ او ميندے د پتاسو باندے صدقه وی بيا معلومه شوه چه ددغه بنده نه مراد پخپله رسول اللهﷺ وو. او ابوبکرؓ زموږ د ټولو نه زيات عالم به فرمائيل چه د ټولو خلقو نه زيات د ابوبکرؓ په ما باندے احسان دے د مال هم او د صحبت هم. او کچرے ما چالره خليل جوړولے (سوا د الله نه) نو ابوبکرؓ به مے خليل جوړ کړے وو. اوس خلت خو نشته ليکن د اسلام اخوت شته دے. مسجد ته به د هيچا کړکۍ نوی (ټولے د بندے کړے شی) مګر د ابوبکرؓ د کور کړکۍ به قائمه وی[2].

---

[1] د ملګری کيدو نه دا مراد دے چه مدد او حفاظت ئے راسره دے او دغه مقصود دے د إِنَّ اللهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ نه او په دے حديث کښ بيان دے د حضرتﷺ د عظيم توکل او فضيلت دے پکښ د ابوبکر صديق دپاره چه هغوی په داسے وخت کښ دحضرتﷺ ملګرتيا اوکړه او د خپل کور ټول مال او اسباب ئے پريخودو. خله د د هغه خلقو د خاورو نه ړکه شی څوک چه دداسے جانثار وفادار ملګری نسبت په بدو الفاظو سره رااوباسی.

[2] نووی وئيلی دی خلت وئيلے شی بالکل د يو کس په خيل کي غرقاب کيدو ته او د هغۀ نه علاوه د نورو سره تعلق قطع کولو ته. دا خبره د حضرتﷺ سوا د الله نه د بل چا سره نۀ وه. البته محبت ئے وو د خديجےؓ او عائشےؓ او ابوبکرؓ او اُسامهؓ او زيدؓ او فاطمےؓ سره قاضی عياض وئيلی دی په يو حديث کښ دی چه هر کله حبيب الله وی نو اختلاف څۀ دے چه د محبت رتبه زياته ده يا د خلت خنے وائی چه دواړه يو شان دی. او خنو وئيلی دی چه د حبيب مرتبه زياته ده. ځکه چه دا صفت زموږ د پيغمبرﷺ دے او خنو وئيلی دی د خلت يوه مرتبه زياته ده او د حضرتﷺ خلت هم ددے حديث نه ثابت دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللهِ ﷺ النَّاسَ يَوْمًا بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه یو ورځ رسول الله ﷺ خلقو ته خطبه فرمائیله (څنګه چه پورته ذکر شو) د مالك د حدیث پشان.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا وَلَكِنَّهُ أَخِي وَصَاحِبِي وَقَدِ اتَّخَذَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلًا

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے ما چالره د خپل ځان خلیل جوړولے (سوا د الله نه) نو ابوبکر صدیق به مے جوړ کړے وو. لیکن هغه زما رور او زما صحابی دے او ستاسو صاحب لره الله خلیل جوړ کړے دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أُمَّتِي أَحَدًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے ما چا لره د خپل امت نه د ځان خلیل جوړولے نو ابوبکر به مے جوړ کړے وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ ابْنَ أَبِي قُحَافَةَ

د عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. کچرے ما چا لره د خپل ځان خلیل جوړولے نو د ابوقحافه ځوے (ابوبکر) به مے جوړ کړے وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ ابْنَ أَبِي قُحَافَةَ خَلِيلًا وَلَكِنْ صَاحِبُكُمْ خَلِيلُ اللهِ

د عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل که چرے ما د زمکے والؤ نه چا لره د خپل ځان خلیل جوړولے نو ابن ابی قحافه (ابوبکر) به مے جوړولے. لیکن ستاسو ملګرے د الله خلیل دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنِّي أَبْرَأُ إِلَى كُلِّ خِلٍّ مِنْ خِلِّهِ وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا إِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ اللهِ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خبردار زۀ د چا سره دوستی نۀ ساتم (یعنی هغه دوستی چه په هغے کښې د بل چا خیال پاتے نۀ شی) او کچرے داسے دوستی مے د چا سره کولے نو د ابوبکر سره به مے کړے وه. او ستاسو صاحب د الله خلیل دے (د صاحب نه مراد د حضرت ﷺ خپل ځان وو)

عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ عَلَى جَيْشِ

د عمرو بن عاص نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هغوی لره د ذات السلاسل د لښکر سره اولیږو (ذات السلاسل د شام په خواؤ شا کښې د

ذَاتِ السَّلَاسِلِ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ عَائِشَةُ قُلْتُ مِنَ الرِّجَالِ قَالَ أَبُوهَا قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ عُمَرُ فَعَدَّ رِجَالاً

يو اويو نوم دے د هغه ځائے جنګ د جمادی الاخری په ۸ھ کښ شوے وو) هغه چه د حضرت خواله راغې نو هغوی اووے یا رسول الله! په ټولو خلقو کښ ستاسو د چا سره زیات محبت دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل د عائشے صدیقے سره هغوی اووے په سړو کښ د د چا سره زیات محبت دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل د هغوی د پلار سره. هغوی اووے بیا د هغوی نه پس د چا سره. هغوی اووے بیا د هغوی نه پس د حضرت عمر سره بیا نور کسان شمار کړه [1].

عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ وَسُئِلَتْ مَنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَخْلِفًا لَوِ اسْتَخْلَفَهُ قَالَتْ أَبُو بَكْرٍ فَقِيلَ لَهَا ثُمَّ مَنْ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ عُمَرُ ثُمَّ قِيلَ لَهَا مَنْ بَعْدَ عُمَرَ قَالَتْ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ ثُمَّ انْتَهَتْ إِلَى هٰذَا

د ابن ابی ملیکه نه روایت دے چه ما د عائشے نه اوریدلے دی چه د هغے نه تپوس اوکړے شو چه کچرے رسول الله ﷺ خلیفه کولے نو څوک به ئے خلیفه کوؤ (ددے نه معلومه شوه چه حضرت د چا په خلافت باندے نص نۀ دے کړے. بلکه د حضرت ابوبکر صدیق خلافت د صحابو په اجماع سره شوے وو او شیعه چه کومه دعوه کوی چه د حضرت علی په خلافت باندے حضرت ﷺ نص کړے وو دغه دعوه باطله او بے اصله ده. او پخپله حضرت علی د هغوی تکذیب کړے دے (نووی) هغوی اووے ابوبکر به ئے خلیفه کوو. بیا ترے تپوس اوکړے شو د هغوی نه پس به ئے څوک خلیفه کوو. هغوی اووے عمر لره بیا ترے تپوس اوشو بیا به ئے د هغوی نه پس څوک خلیفه کوو. هغوی اووے ابوعبیده ابن الجراح لره. بیا خاموش پاتے شو.

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ شَيْئًا فَأَمَرَهَا أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْهِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ

د جبیر بن مطعم نه روایت دے چه یوے ښځے د رسول الله ﷺ نه د څۀ خبرے تپوس اوکړو. حضرت ورته اوفرمائیل بیا راشه! هغے اووے یا رسول الله ﷺ کچرے زۀ راشم او تا لره او نۀ مومم (یعنی

[1] نووی وائی ددے حدیث نه د ابوبکر او عمر او عائشے لوئے فضیلت ښکاره شو او دا د اهل سنتو دلیل دے چه ابوبکر د عمر نه افضل دے

حدث ... حدثك قال أبي كأنها تعني الموت قال فإن لم تجديني فأتي أبا بكر

عن جبير بن مطعم أن أباه جبير بن مطعم أخبره أن امرأة أتت رسول الله صلى الله عليه وسلم فكلمته في شيء فأمرها بأمر بمثل حديث عباد بن موسى

عن عائشة قالت قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم في مرضه ادعي لي أبا بكر أباك وأخاك حتى أكتب كتابا فإني أخاف أن يتمنى متمن ويقول قائل أنا أولى ويأبى الله والمؤمنون إلا أبا بكر

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من أصبح منكم اليوم صائما قال أبو بكر أنا قال فمن تبع منكم اليوم جنازة قال أبو بكر أنا قال فمن أطعم منكم اليوم مسكينا قال أبو بكر أنا قال فمن عاد منكم اليوم مريضا قال أبو بكر أنا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما اجتمعن في امرئ إلا دخل الجنة

عن أبي هريرة يقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بينما رجل يسوق بقرة له قد حمل عليها التفتت

تاسو وفات شوی یې؟ حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل کچرے تا زۀ او نۀ موندم نو د ابوبکرؓ خوا له راشه

د جُبیر بن مطعمؓ نه روایت دے چه یوه ښځه د رسول الله ﷺ خواله راغله او د څۀ په باره کښې ئې د حضرت ﷺ سره خبره اوکړه. نو حضرت ﷺ هغې ته حکم اوکړو څنګه چه د عباد بن موسیٰ په حدیث کښې ذکر کړے شوی دی د هغې په شان.

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې صدیقې نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ پخپله بیمارئ کښې اوفرمائیل راااوغواره ته خپل پلار ابوبکر لره او خپل رور لره د دے دپاره چه زۀ یو کتاب اولیکم زۀ یریږم چه څوک آرزو کوونکے آرزو او نۀ کړي (د خلافت) او څوک وینا کوونکے دا اونۀ وائي چه زۀ د خلافت زیات حقدار یم او الله تعالیٰ انکار کوي او مسلمانان هم انکار کوي سوا د ابوبکر نه د بل چا په خلافت سره.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل نن ورځ پتاسو کښې د چا روژه ده. ابوبکرؓ اووے څما. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل نن ورځ څوک ستاسو نه د جنازے سره تلے دے. ابوبکرؓ اووے زۀ. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل نن ورځ پتاسو کښې چا په مسکین باندے غله خوړولے ده. ابوبکرؓ اووے ما بیا حضرت اوفرمائیل نن ورځ پتاسو کښې چا د یو بیمار بیمار پُرسی کړے ده؟ ابوبکرؓ اووے ما حضرت ﷺ اوفرمائیل په چا کښې چه دا ټولے خبرے جمع وی هغه به جنت ته داخل شي.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یو سړی یو غوئی باندے بار اچولے وو او شړلو ئې غوئی د هغۀ په طرف اوکتل او اوئې وئیل زۀ د دے دپاره نۀ یم پیدا شوے. زۀ خو د پټی دپاره پیدا

إِلَيهِ الْبَقَرَةُ فَقَالَتْ إِنِّي لَمْ أُخْلَقْ لِهَذَا وَلَكِنِّي إِنَّمَا خُلِقْتُ لِلْحَرْثِ فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللهِ تَعَجُّبًا وَفَزَعًا أَبَقَرَةٌ تَكَلَّمُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي أُومِنُ بِهِ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا رَاعٍ فِي غَنَمِهِ عَدَا عَلَيْهِ الذِّئْبُ فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً فَطَلَبَهُ الرَّاعِي حَتَّى اسْتَنْقَذَهَا مِنْهُ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ الذِّئْبُ فَقَالَ لَهُ مَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ يَوْمَ لَيْسَ لَهَا رَاعٍ غَيْرِي فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي أُومِنُ بِذَلِكَ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ

شوے یم خلقو اووے سبحان الله په حیرانتیا سره، اویریدل. چه غوئی خبرے کوی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل زهٔ خو دے خبر لره رښتونے گنړم او ابوبکر او عمر ئے هم رښتونے گنړی. ابوهریرهؓ وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یو شپونکے په خپلو بزو کښں وو چه په دے کښں یو شرمخ ورغوته شو او یوه بزه ئے یوړه. شپونکے وریسے شو او بزه ئے د هغهٔ نه خلاصه کړه. شرمخ د هغهٔ په طرف اوکتل او اونے وئیل په هغه ورځ به څوك بزه خلاصه کړی په کومه ورځ چه سوا څما نه یو سرونکے نهٔ وی. (هغه د قیامت ورځ ده یا د اختر ورځ په کومه ورځ چه جاهلیت والا په لوبو وغیره کښں مصروف وی او گډے بزے بیائی یا قیامت ته نزدے د اُمت او فتنے په ورځ چه هر کله خلقو د مصیبت په وجه د خپل مال په فکر سره غافل شی. خلقو اووے سُبحٰن الله رسول الله ﷺ اوفرمائیل زهٔ خو دے ته رښتیا وایم او ابوبکرؓ او عمرؓ هم ئے رښتیا گنړی. په بل روایت کښں دی چه ابوبکرؓ او عمرؓ هلته موجود نهٔ دے، ددے حدیث نه د هغوی لوئے فضیلت ښکاره شو چه حضرت ﷺ ته په هغوی باندے دومره بهروسه وه. چه کومه خبره حضرتؐ مني هغو هم ضرور مني.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ قِصَّةَ الشَّاةِ وَالذِّئْبِ وَلَمْ يَذْكُرْ قِصَّةَ الْبَقَرَةِ

د ابن شهاب نه روایت دے په دے کښں د بزے او د شرمخ ذکر دے او د غوی ذکر نشته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَفِي حَدِيثِهِمَا ذِكْرُ الْبَقَرَةِ وَالشَّاةِ مَعًا وَقَالَا فِي حَدِيثِهِمَا فَإِنِّي أُومِنُ بِهِ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَمَا هُمَا ثَمَّ

ابوهریرهؓ د نبی ﷺ نه ددے حدیث هم معنٰی روایت کړے دے کوم چه یونس د زهری نه روایت کړے دے. په هغه دواړه حدیثونو کښں د غوی او بزے دواړو ذکر دے. او په هغوی کښں دی چه ما ایمان راوړے دے په هغے باندے او ابوبکرؓ او عمرؓ هم. او دا دواړه هلته موجود نهٔ وو.

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ عُمَرَ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ وُضِعَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَلَى سَرِيرِهِ فَتَكَنَّفَهُ النَّاسُ يَدْعُونَ وَيُثْنُونَ وَيُصَلُّونَ عَلَيْهِ قَبْلَ أَنْ يُرْفَعَ وَأَنَا فِيهِمْ قَالَ فَلَمْ يَرُعْنِي إِلَّا بِرَجُلٍ قَدْ أَخَذَ بِمَنْكِبِي مِنْ وَرَائِي فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ عَلِيٌّ فَتَرَحَّمَ عَلَى عُمَرَ وَقَالَ مَا خَلَّفْتَ أَحَدًا أَحَبَّ إِلَيَّ أَنْ أَلْقَى اللَّهَ بِمِثْلِ عَمَلِهِ مِنْكَ وَايْمُ اللَّهِ إِنْ كُنْتُ لَأَظُنُّ أَنْ يَجْعَلَكَ اللَّهُ مَعَ صَاحِبَيْكَ وَذَاكَ أَنِّي كُنْتُ أُكَثِّرُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ جِئْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَدَخَلْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَخَرَجْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَإِنْ كُنْتُ لَأَرْجُو أَوْ لَأَظُنُّ أَنْ يَجْعَلَكَ اللَّهُ مَعَهُمَا

عَنْ عُمَرَ ابْنِ سَعِيدٍ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ

باب : د حضرت عمرؓ د بزرګۍ بیان

د ابن عباسؓ نه روایت دے حضرت عمرؓ (چه کله انتقال اوکړو) او په کټ کښې کیښودے شو. نو خلق د هغوی نه چا پیره شو دُعائے کوله او تعریف ئې کوله او مونځ ئې اوکړو په هغوی جنازه ئې پورته کړه. دد ے وړلو نه مخکښې زۀ هم په هغه خلقو کښې وم. زۀ نۀ یریدم مګر دیو سړی نه چه هغه خما مته اونیوه خما د شانه ما چه اوکتل نو هغه حضرت علیؓ وو. هغوی اووے رحم د اوکړی الله تعالی په حضرت عمرؓ باندے بیائے اووے (د هغوی په طرف ئې خطاب اوکړو) اووے ویل عمره تاسو یو سړے داسے نۀ دے پریخودے د چا اعمال چه داسے وی چه په هغه اعمالو ما ته د الله سره میلاویدل غوره وی ستا نه زیات. په الله قسم دے چه زۀ پوهه یم چه الله تعالی به تا له ستا د دوارو ملګرو سره کړی (یعنی د رسول اللهﷺ او ابوبکر صدیقؓ سره) او د هغې وجه داوه چه ما به اکثر اوریدلو د رسول اللهﷺ نه چه فرمائیلی ئې راغلم او ابوبکرؓ او عمرؓ راغے او زۀ د ننه لاړم او ابوبکرؓ او عمرؓ لاړو. او زۀ رااووتوم او ابوبکرؓ او عمرؓ رااووتم خکه خما اُمید وو چه الله تعالی به تاسو لره د هغوی دوارو سره کړی[1]

د عمر بن سعیدؓ په دے اسناد سره هم دغسے حدیث مروی دے.

---

[1] چونکه رسول اللهﷺ به په هر کار او خبره کښې ابوبکرؓ او عمرؓ لره ملګری کولو نو په آخرت کښې هم الله تعالی د هغوی ملګرتیا قایمه او ساتله او درے واړه ملګری په یو خائے دِ فن شو. دد ے حدیث نه د حضرت علیؓ محبت د حضرت عمرؓ په باره کښې رااووتو او دا هم ثابته شوه چه حضرت علیؓ د حضرت عمرؓ تعریف کولو او هغوی لره ئې د الله مقبول بنده او دهغوی بنده او دهغوی اعمالو لره ئې نیک ګنړلو. تردے پورے چه د هغهٔ د اعمالو ئې پخپله آرزو کوله اوس دِ د هغه بے ایمانو خله توره شی چه هغه معاذ الله په حضرت علیؓ او حضرت عمرؓ خلاف بیانوی د تمام سیر او تواریخ او احادیثو نه ثابته ده چه دِ حضرت عمرؓ او حضرت علیؓ چرته جهګړه نۀ ده راغلے بلکه حضرت عمرؓ په خپل خلافت کښې تول مالونه د رسول اللهﷺ حضرت علیؓ او حضرت عباسؓ ته اوسپارل او په هر یو کار او مشوره کښې به حضرت عمرؓ حضرت علیؓ لره شریکوؤ او په ډیرو مسئلو کښې ئې د حضرت علیؓ نه مشوره اخستله تردے پورے چه حضرت علیؓ د خپلے لور نکاح یعنی د ام کلثوم د حضرت عمرؓ سره کړے وو. دد ے باوجود چه حضرت عمرؓ بوډا وو

أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ دُونَ ذٰلِكَ وَمَرَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ يَجُرُّهُ قَالُوا مَاذَا أَوَّلْتَ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الدِّينَ

د ابوسعيد خدري نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل په كوم حالت كښې چه زۀ اودۀ وم ما خلقو لره اوليدو چه مخے ته به راتلل او كُرتے (قميص) به ئے اغوستے وے. د خنو كُرتے د سينو پورے وې او د خنو د هغے نه لاندے. بيا حضرت عمر را اووتو نو هغه دومره اوږده كُرته اغوستے وه چه په زمكه ورته رابښكودے شوه. خلقو عرض اوكړو يا رسول الله د دے تعبير څۀ دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل دين[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ إِذْ رَأَيْتُ قَدَحًا أُتِيتُ بِهِ فِيهِ لَبَنٌ فَشَرِبْتُ مِنْهُ حَتَّى إِنِّي لَأَرَى الرِّيَّ يَجْرِي فِي أَظْفَارِي ثُمَّ أَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الْعِلْمَ

د عبدالله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل زۀ اودۀ وم. او په خوب كښې يوه پياله څما مخے ته راوړے شوه. چه په هغے كښې پئ وو. ما د هغے نه اوڅښل تر دے پورے چه تازگي او سيرابي څما د نوكونو نه وتل شروع شو. بيا چه څۀ باقي پاتے شو هغه ما عمر خوئ د خطاب ته وركړل. خلقو تپوس اوكړو د دے تعبير څۀ دے يا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائيل د دے تعبير علم دے[2].

عَنْ صَالِحٍ بِإِسْنَادِ يُونُسَ نَحْوَ حَدِيثِهِ

د صالح نه د يونس د اسناد نه د پورتني حديث پشان روايت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ

د ابوهريره نه روايت دے رسول الله ﷺ اوفرمائيل په كوم حالت كښې

---

[1] په دے اوكُرته كښې دا مناسبت دے چه څنگه كُرته بدن لره پټوي او د يخني، گرمي نه ئے پټوي يعني بچ كوي. دغه شان دين روح او زړۀ لره ئے محفوظ ساتي. د كفر او د گناه نه ئے بچ ساتي. د دے حديث نه ثابته شوه. چه د حضرت عمر دين د حد نه زيات كامل وو (تحفة الاخيار)

[2] په دے حديث سره د تعبير خاوندانو وئيلي دي چه څوك په خوب كښې پئ څښل اويني هغۀ ته به علم نصيب كيږي. څكه چه علم د روح د ژوند سبب دے لكه څنگه چه پئ د بدن د ژوند سبب دے خصوصاً د ماشوم والي په حالت كښې. د دے حديث نه ډير زيات فضيلت د عمر فاروق ثابت شو چه هغه د علم نبوت راز دار وو په دغه سبب سره هغوي ته په خلافت او ملك دارئ او د سياست تدبير د رسول الله ﷺ د سياست او تدبير نمونه وه د هغوي په خلافت كښې اسلام خور شو او مسلمانانو ته عزت او عظمت او حكومت او شوكت حاصل شو څلور لوئے لوئے ښارونه فتح او څلور زره جماعتونه جوړ كړے شو. د هغوي احسان د قيامت پورے د هر مسلمان په څټ باندے دے او كوم مسلمان چه حق پيژني هغه د قيامت پورے د هغوي شكر گزار دے راضي د وي الله د هغوي نه.

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي عَلَى قَلِيبٍ عَلَيْهَا دَلْوٌ فَنَزَعْتُ مِنْهَا مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ أَخَذَهَا ابْنُ أَبِي قُحَافَةَ فَنَزَعَ بِهَا ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ وَفِي نَزْعِهِ وَاللَّهُ يَغْفِرُ لَهُ ضَعْفٌ ثُمَّ اسْتَحَالَتْ غَرْبًا فَأَخَذَهَا ابْنُ الْخَطَّابِ فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا مِنَ النَّاسِ يَنْزِعُ نَزْعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ

چه زهٔ اودهٔ وم. ما خپل ځان اوليدو په يو کوهي باندے چه په هغے باندے بوقه پرته ده. ما په هغه بوقه سره اوبهٔ راښکودے څومره چه الله غوښتلے بيا هغے لره د ابوقحافه ځوئ صديق اکبرؓ واخسته او يو يا دوه بوقے ئے رااوويستے. د هغوی په راښکودو کښې کمزوری وه. الله د هغوی لره اوبخښی بيا هغه ډول پل (يعنی لويه بوقه شوه) او هغے لره عمرين الخطابؓ واخسته نو ما په خلقو کښې داسے سردار او طاقتورنهٔ دے ليدلے دعمرؓ پشان په اوبو راويستو کښې هغوی دومره ډيرے اوبهٔ رااوويستے چه خلقو پرے خپل خپل اوښان سيراب کړل او د آرام ځائے ته ئے بوتلل[1].

عَنْ صَالِحٍ بِإِسْنَادِ يُونُسَ نَحْوَ حَدِيثِهِ

د صالح نه د يونس په اسناد دغه شان روايت دے.

عَنْ صَالِحٍ قَالَ قَالَ الْأَعْرَجُ وَغَيْرُهُ إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ ابْنَ أَبِي قُحَافَةَ يَنْزِعُ بِنَحْوِ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ

د صالح نه روايت دے چه اعرج وغيره (راويانو) وئيلی دی چه ابوهريرهؓ وئيلی دی چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی. ما (په خوب کښې) ابن ابی قحافه (ابوبکرؓ) لره اوليدهٔ چه بوقه رااويستله (مخکښې مضمون) د زهری د حديث پشان.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُرِيتُ أَنِّي أَنْزِعُ عَلَى حَوْضِي أَسْقِي النَّاسَ فَجَاءَنِي أَبُو بَكْرٍ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل زهٔ په خوب کښې وينمه چه د خپل حوض نه اوبهٔ رااوباسم او په خلقو ئے څکوم بيا ابوبکرؓ ځما خواله راغے. هغوی هغه بوقه ځما د لاس نه واخسته

---

[1] علماء وائی په دے خوب کښې تمثيل دے د حضرت ابوبکرؓ او د عمرؓ د خلافت او د هغوی د حسن سيرت او دا ټول د رسول اللهﷺ برکت وو او د هغوی د صحبت اثر وو. نو روميے حضرت دين قائم کړو او پوره ئے کړو او خلق په ټوله دين ته راتلل شروع شو. بيا حضرتﷺ وفات شو او ابوبکر صديق خليفه شو. هغوی د دوو کالو پورے خلافت اوکړو. او دغه مراد دے د يو يا د دوؤ بوقو نه. او دا د راوی شك دے او صحيح دوه بوقے دی. لکه څنګه چه په بل روايت کښې دی چه د هغوی په خلافت کښې مرتد او وژلے شو او د هغوی زيله پريکړے شوه. او اسلام خور شو. بيا حضرت عمرؓ خليفه شو او اسلام ښهٔ خور شو. او دا چه ئے کوم اوفرمائيل چه د ابوبکرؓ په راښکودو کښې کمزوری وه دد ے دهغوی قدر کمول مقصود نهٔ دی. نهٔ د حضرت عمرؓ رتبه د هغوی سوا کيدل بلکه غرض تر نه د خلافت د مودے بيان دے او د منافع د خلافت او هغه زيات دے په حضرت عمرؓ کښې په دے حديث کښې دا هم دليل دے. چه ابوبکرؓ به د حضرتﷺ نائب وی او د هغوی نه پس حضرت عمر راضی د وی الله تعالی د هغوی نه (نووی مختصراً)

فَأَخَذَ الدَّلْوَ مِنْ يَدِي لِيُرَوِّحَنِي فَنَزَعَ دَلْوَيْنِ وَفِي نَزْعِهِ ضَعْفٌ وَاللهُ يَغْفِرُ لَهُ فَجَاءَ ابْنُ الْخَطَّابِ فَأَخَذَ مِنْهُ فَلَمْ أَرَ نَزْعَ رَجُلٍ قَطُّ أَقْوَى مِنْهُ حَتَّى تَوَلَّى النَّاسُ وَالْحَوْضُ مَلْآنُ يَتَفَجَّرُ

او ما ته ئې د آرام کولو دپاره اووے. او بوقې ئې راویستلے د کمزورۍ سره. الله د هغوی اوبخښي. بیا د خطاب خوئ راغے هغوی بوقه د ابوبکر ؓ د لاس نه واخسته. نو ما داسې زبردست راویستل د چا نه دی لیدلی . تردے پورے چه خلق ماړهٔ شو او لاړل او حوض ډك شوے بهیدو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيتُ كَأَنِّي أَنْزِعُ بِدَلْوِ بَكْرَةٍ عَلَى قَلِيبٍ فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ فَنَزَعَ ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ فَنَزَعَ نَزْعًا ضَعِيفًا وَاللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَغْفِرُ لَهُ ثُمَّ جَاءَ عُمَرُ فَاسْتَقَى فَاسْتَحَالَتْ غَرْبًا فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا مِنَ النَّاسِ يَفْرِي فَرْيَهُ حَتَّى رَوِيَ النَّاسُ وَضَرَبُوا الْعَطَنَ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ما په خواب کښې اولیدل چه زهٔ د یو کوهي نه د سحر په وخت کښې اوبهٔ رااوباسمه چه په دے کښې ابوبکر ؓ راغے هغه هم یوه بوقه یا دوه بوقې رااوویستې د کمزورۍ سره. او الله د هغوی لره اوبخښي. بیا عمر ؓ راغے او هغهٔ اوبهٔ راویستل شروع کړل هغه بوقه یو لوئ ډول شو. نو ما داسې زبردست کارکونکے نهٔ دے لیدلے. تردے پورے چه خلق ماړهٔ شو او په خپلو اوښانو ئې اوبهٔ اوڅښلې د آرام په ځائے کښې ئې کینښول.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ رُؤْيَا رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ؓ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

د عبدالله بن عمر ؓ نه روایت دے د رسول الله ﷺ خوب چه حضرت ﷺ د ابوبکر ؓ او د عمر ؓ په باره کښې لیدلے وو. د پورتنی حدیثونو پشان.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَرَأَيْتُ فِيهَا دَارًا أَوْ قَصْرًا فَقُلْتُ لِمَنْ هَذَا فَقَالُوا لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَ فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ فَبَكَى عُمَرُ وَقَالَ أَيْ رَسُولَ اللهِ أَوَعَلَيْكَ يُغَارُ

د جابر ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه زهٔ جنت ته لاړم او هلته یو کور یا محل مې اولیدهٔ. ما تپوس اوکړو دا د چا دے؟ خلقو اووے دا د عمر ؓ بن خطاب. ما دننه تلل غوښتل. بیا ستا د غیرت ما ته خیال راغے. ددے خبرے په اوریدو حضرت عمر ؓ په ژړا شو. او عرض ئې اوکړو یا رسول الله ﷺ! ولې ستا په تلو سره به ما غیرت کوؤ[1].

[1] ستاسو خو کور آباد دے. او زهٔ پخپله ستاسو یم او جنت هم خاص ستاسو طفیل دے (یعنی ستاسو په تابعدارۍ او اطاعت دے) ددے حدیث نه د حضرت عمر فضیلت ظاهر دے او د هغوی جنتي کیدل یقیني دی.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ وَزُهَيْرٍ

جابرؓ د نبی ﷺ نه د ابن نمیر او زهیر (راویانو) د حدیث پشان حدیث روایت کړو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ إِذْ رَأَيْتُنِي فِي الْجَنَّةِ فَإِذَا امْرَأَةٌ تَوَضَّأُ إِلَى جَانِبِ قَصْرٍ فَقُلْتُ لِمَنْ هٰذَا فَقَالُوا لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَذَكَرْتُ غَيْرَةَ عُمَرَ فَوَلَّيْتُ مُدْبِرًا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَبَكَى عُمَرُ وَنَحْنُ جَمِيعًا فِي ذٰلِكَ الْمَجْلِسِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ عُمَرُ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ أَعَلَيْكَ أَغَارُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زهٔ اودهٔ وم ما خپل ځان په جنت کښې اولیدهٔ. هلته یوے ښځے د محل په یو ګوټ کښې اودس کولو. ما ترے تپوس اوکړو چه دا محل د چا دے. هغوی اووے دا د عمر بن خطابؓ. دے په اوریدو ما ته د عمرؓ د غیرت خیال راغے او زهٔ واپس شوم. ابوهریرهؓ وائی عمرؓ چه هر کله دا خبره د رسول الله ﷺ نه واوریده نو په ژړا شو او مونږ ټول په مجلس کښې وو د رسول الله ﷺ سره. بیا حضرت عمرؓ اووے ځما پلار مور دِ په تا باندے صدقه وی ولے زهٔ به په تا باندے غیرت کوم.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د ابن شهاب نه په دے اسناد سره داسے روایت دے.

عَنْ سَعْدٍ قَالَ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ نِسَاءٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُكَلِّمْنَهُ وَيَسْتَكْثِرْنَهُ عَالِيَةً أَصْوَاتُهُنَّ فَلَمَّا اسْتَأْذَنَ عُمَرُ قُمْنَ يَبْتَدِرْنَ الْحِجَابَ فَأَذِنَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُ فَقَالَ عُمَرُ أَضْحَكَ اللهُ سِنَّكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجِبْتُ مِنْ هٰؤُلَاءِ اللَّاتِي كُنَّ عِنْدِي فَلَمَّا سَمِعْنَ صَوْتَكَ ابْتَدَرْنَ الْحِجَابَ قَالَ عُمَرُ فَأَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ أَحَقُّ أَنْ يَهَبْنَ ثُمَّ قَالَ عُمَرُ أَيْ عَدُوَّاتِ أَنْفُسِهِنَّ

د سعدؓ نه روایت دے حضرت عمرؓ اجازت اوغوښتو د رسول الله ﷺ نه د دننه ورتلو او د حضرت ﷺ سره هغه وخت د قریشو ښځے ناستے وے د حضرت ﷺ سره ئے خبرے کولے او ډیر تیزے خبرے ئے کولے. د هغوی آوازونه اوچت وو. هر کله چه حضرت عمرؓ آواز اوکړو نو پاځیدے منډے ئے کړے د غلی کیدو دپاره. رسول الله ﷺ حضرت عمرؓ له اجازت ورکړو. او حضرت ﷺ خوشحاله وو. حضرت عمرؓ اووے الله دِ تالره مُسکے لری یا رسول اللهؐ! حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل زهٔ حیران شوم هغه ښځو ته چه ځما په خوا کښې ناستے وے. ستاسو د آواز اوریدو سره په پرده کښې په منډه اوتښتیدے. حضرت عمرؓ عرض اوکړو یا رسول اللهؐ! ستاسو نه هغوی ته زیات یریدل پکار وو. بیائے هغه

أَتَهَبْنَنِي وَلَا تَهَبْنَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَ نَعَمْ أَنْتَ أَغْلَظُ وَأَفَظُّ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا لَقِيَكَ الشَّيْطَانُ قَطُّ سَالِكًا فَجًّا إِلَّا سَلَكَ فَجًّا غَيْرَ فَجِّكَ

بنځو ته اووې. د خپل ځان دشمنانو تاسو خما نه يريږئ او د الله د رسول ﷺ نه نهٔ يريږئ. هغوی اووې آو. تهٔ سخت ئې او غصه ناك ئې په نسبت د رسول الله ﷺ او رسول الله ﷺ فرمائيلی دی قسم دے په هغه ذات د چا په قبضه کښې چه خما روح دے. شيطان چه هر کله ستا سره ميلاويږی په يوه لار کښې چه په هغې تهٔ روان ئې نو هغه لار پريږدی په بله روان شی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ نِسْوَةٌ قَدْ رَفَعْنَ أَصْوَاتَهُنَّ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا اسْتَأْذَنَ عُمَرُ ابْتَدَرْنَ الْحِجَابَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه حضرت عمرؓ د رسول الله ﷺ خواله راغے. هغه وخت څهٔ بنځے د حضرت ﷺ سره ناستے وے، د هغوی آوازونه د رسول الله ﷺ د آواز نه اوچت وو. هر کله چه حضرت عمرؓ د دننه راتلو اجازت اوغوښتو نو هغوی منډے کړے په پرده کښې شوے (مخکښې حديث) د زهری د حديث پشان ئې بيان کړو.

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ قَدْ كَانَ يَكُونُ فِي الْأُمَمِ قَبْلَكُمْ مُحَدَّثُونَ فَإِنْ يَكُنْ فِي أُمَّتِي مِنْهُمْ أَحَدٌ فَإِنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ مِنْهُمْ قَالَ ابْنُ وَهْبٍ تَفْسِيرُ مُحَدَّثُونَ مُلْهَمُونَ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ستاسو نه په مخکښې امتونو کښې به داسے خلقو خبره کوله (چه د هغوی رائے به ټهيك او ګمان به ئې صحيح وو يا به فرښتو هغوی ته څهٔ الهام کوو) خما په امت کښې کچرے داسے څوك وی نو هغه به عمر بن خطابؓ وی.

عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د سعيد بن ابراهيم نه په دے اسناد سره د پورتنی حديث پشان حديث مروی دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ عُمَرُ وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ فِي مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ وَفِي الْحِجَابِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه حضرت عمرؓ اووے زهٔ د خپل رب موافق شوم په درے خبرو کښې يو د مقام ابراهيم په مونځ کولو

---

[1] خکه چه په شيطان به د حضرت عمرؓ د يرے نه خولے راتلے. په دے حديث باندے ځنے بے وقوفو اعتراض کړے دے چه دا څنګه کيدے شی چه شيطان دِ په نسبت د رسول الله ﷺ د حضرت عمر نه زيات او يريږی. د هغے جواب دادے چه په دے حديث کښې دا چرته دی چه شيطان خما نه کم يريږی او کچرے داسے هم وی نو قباحت دے د کوتوال نه چه څومره غل يريږی دومره د باشاه نه نهٔ يريږی. په دے سره د کوتوال فضيلت په بادشاه باندے نهٔ راځی.

وَفِي أُسَارَى بَدْرٍ

كښې (هر كله چه ما رائے وركړه چه يا رسول الله! تاسو دے لره ځائے د مانځهٔ جوړ كړئ او هم دغسے په قران كښې نازل شو. وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى. دويم د ښځو د پردے په باره كښې. دريم د بدر د قيديانو په باره كښې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيِّ ابْنُ سَلُولَ جَاءَ ابْنُهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ أَنْ يُعْطِيَهُ قَمِيصَهُ أَنْ يُكَفِّنَ فِيهِ أَبَاهُ فَأَعْطَاهُ ثُمَّ سَأَلَهُ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَقَامَ عُمَرُ فَأَخَذَ بِثَوْبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَتُصَلِّي عَلَيْهِ وَقَدْ نَهَاكَ اللهُ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا خَيَّرَنِي اللهُ فَقَالَ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً وَسَأَزِيدُ عَلَى سَبْعِينَ قَالَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ

د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دے هر كله چه عبد الله بن سلول وفات شو (چه هغه لوئے منافق وو) نو د هغهٔ ځوئے عبدا لله د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوكړو چه تاسو خپل قميص خما د پلار د كفن دپاره راكړئ. حضرت خپل قميص وركړو. بيا هغهٔ اووے تاسو په هغوى باندے مونځ اوكړئ. رسول الله ﷺ اودريدو په هغهٔ باندے د مونځ لوستلو دپاره. حضرت عمر رضي الله عنه پاڅيدو او د حضرت ﷺ كپړه ئے اونيوه او ئے فرمائيل يا رسول الله! ولے تاسو په دهٔ باندے مونځ كوئ. حالانكه الله تعالى حضرت ﷺ لره منع كړو په هغهٔ باندے د مونځ كولو نه. رسول الله ﷺ اوفرمائيل ما ته اختيار را كړے شو چه ته كهٔ د هغهٔ دپاره دُعا كوے يا نهٔ كوے كچرے ته اويا خله هم دُعا اوكړے خو الله تعالى هغهٔ لره نهٔ بخښى. نو زهٔ به د اويا خلو نه زياته دُعا اوغوارم. حضرت عمر رضي الله عنه اووے. هغه منافق وو. آخر حضرت ﷺ په هغهٔ باندے مونځ اوكړو. پس دا آيت نازل شو "مونځ مهٔ كوه په هيڅ يو منافق باندے چه مړ شي او مهٔ اودريږه د هغهٔ په قبر باندے (نو د حضرت عمر رضي الله عنه دغه رائے الله تعالى غوره كړه)

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ فِي مَعْنَى حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ وَزَادَ قَالَ فَتَرَكَ الصَّلَاةَ عَلَيْهِمْ

د عبيد الله نه په دے اسناد سره د ابوأسامه د حديث هَم معنى روايت دے په دے كښې زياته خبره داده چه بيا حضرت ﷺ په منافقانو مونځ كول پريخودل.

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رضي الله عنه

باب: د حضرت عثمان د فضيلت بيان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُضْطَجِعًا فِي بَيْتِي كَاشِفًا عَنْ فَخِذَيْهِ أَوْ سَاقَيْهِ فَاسْتَأْذَنَ أَبُو بَكْرٍ فَأَذِنَ لَهُ وَهُوَ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ فَتَحَدَّثَ ثُمَّ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ فَأَذِنَ لَهُ وَهُوَ كَذٰلِكَ فَتَحَدَّثَ ثُمَّ اسْتَأْذَنَ عُثْمَانُ فَجَلَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَوَّى ثِيَابَهُ قَالَ مُحَمَّدٌ وَلَا أَقُولُ ذٰلِكَ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ فَدَخَلَ فَتَحَدَّثَ فَلَمَّا خَرَجَ قَالَتْ عَائِشَةُ دَخَلَ أَبُو بَكْرٍ فَلَمْ تَهْتَشَّ لَهُ وَلَمْ تُبَالِهِ ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَلَمْ تَهْتَشَّ لَهُ وَلَمْ تُبَالِهِ ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ فَجَلَسْتَ وَسَوَّيْتَ ثِيَابَكَ فَقَالَ أَلَا أَسْتَحِي مِنْ رَجُلٍ تَسْتَحِي مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ

د مومنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په خپل کور کښې ملاست وو ورنان یا پنډۍ ئے ښکاره شوے وے. چه په دے کښې حضرت ابوبکرؓ اجازت اوغوښتو. حضرت ﷺ اجازت ورکړو او په دغه حال کښې ئے خبرے کولے. بیا عمرؓ اجازت اوغوښتو. هغهٔ ته ئے هم اجازت ورکړو. او په دغه حال کښې ئے خبرے کولے. بیا عثمانؓ اجازت اوغوښتو نو رسول الله ﷺ کېښناستو او خپلے کپړے ئے برابر کړے. بیا هغوی راغلل او خبرے ئے کولے. هر کله چه هغوی لاړل نو حضرت عائشےؓ اووے ابوبکرؓ راغے تاسو څهٔ خیال اونهٔ کړو بیا عمرؓ راغے او تاسو څهٔ خیال اونهٔ کړو. بیا چه حضرت عثمانؓ راغے نو تاسو خپلے کپړے برابر کړے او کېښناستئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل ولے زهٔ به شرم نهٔ کوم د هغهٔ سړی نه د چا نه چه فرښتے شرم کوی[1].

عَنْ عَائِشَةَ وَعُثْمَانَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ اسْتَأْذَنَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى فِرَاشِهِ لَابِسٌ مِرْطَ عَائِشَةَ فَأَذِنَ لِأَبِي بَكْرٍ وَهُوَ كَذٰلِكَ فَقَضَى إِلَيْهِ حَاجَتَهُ ثُمَّ انْصَرَفَ ثُمَّ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ فَأَذِنَ لَهُ وَهُوَ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ فَقَضَى إِلَيْهِ حَاجَتَهُ ثُمَّ

د حضرت عائشےؓ او د حضرت عثمانؓ نه روایت دے چه ابوبکرؓ اجازت اوغوښتو د رسول الله ﷺ نه او حضرت ﷺ په خپله بستره باندے ملاست وو د حضرت عائشےؓ څادر ئے اغوستے وو. حضرت ﷺ دغه حال کښې ابوبکرؓ ته اجازت ورکړو. هغهٔ خپل کار پوره کړو او لاړو. بیا عمرؓ راغے هغوی اجازت اوغوښتو. حضرت ﷺ ورته اجازت ورکړو په دغه حال کښې او لاړهٔ. عثمانؓ وائی

[1] نو حضرت ﷺ د حضرت عثمانؓ نه شرم اوکړو ځکه چه عثمانؓ د ډیرے حیا سره مشهور وو. ځکه حضرت ﷺ هم د هغوی سره د غسے سلوك اوکړو.

په مصابیح کښې د انسؓ نه مرفوعًا مروی دی چه د هر چا نه زیات خما په امت کښې په رښتیا شرم کولو والا عثمانؓ دے. او ملا د ابن عمر نه روایت کړے دے چه د ټولو نه زیات حیادار او د ټولو نه زیات عزتمند عثمان دے. دد ے حدیث نه مالکیۍ دلیل نیولے دے چه د ورون پتول عورت نهٔ دی. نووی وئیلی دی چه دا دلیل صحیح نهٔ دے. ولے چه په حدیث کښې رای ته شك دےچه ورنونه ئے ښکاره وو یا پنډۍ. نو صحیح دا ده چه ورون عورت دے. السراج الوهاج

انصرف قَالَ عُثْمَانُ ثُمَّ اسْتَأْذَنْتُ عَلَيْهِ فَجَلَسَ وَقَالَ لِعَائِشَةَ اجْمَعِي عَلَيْكِ ثِيَابَكِ فَقَضَيْتُ إِلَيْهِ حَاجَتِي ثُمَّ انْصَرَفْتُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ يَا رَسُولَ اللهِ مَالِي لَمْ أَرَكَ فَزِعْتَ لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا كَمَا فَزِعْتَ لِعُثْمَانَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عُثْمَانَ رَجُلٌ حَيِيٌّ وَإِنِّي خَشِيتُ إِنْ أَذِنْتُ لَهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ أَنْ لَا يَبْلُغَ إِلَيَّ فِي حَاجَتِهِ

بیا ما اجازت اوغوښتو نو حضرت ﷺ کیښناستو او عائشےؓ ته ئے اوفرمائیل ته خپلے کپړے په ښهٔ طریقه برابرے کړه. بیا ما خپل کار پوره کړو او لاړم. ددے نه پس عائشےؓ اووے یارسول اللهﷺ! څهٔ وجه ده چه تاسو د ابوبکرؓ او عمرؓ په راتلو سره دومره پرواه (متأثره نهٔ شوے. ۱۲عارف) اونکړه لکه څومره چه دعثمان په راتلو سره پرواه وکړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل. عثمانؓ حیادار سړے دے او زهٔ یریږم کچرے په داسے حال کښ هغوی ته هم اجازت اوکړم. نو هغهٔ به خپل کار او نهٔ کړے شی (یعنی د شرم نه به څهٔ او نهٔ وائی او لاړ به شی)

عَنْ عُثْمَانَ وَعَائِشَةَ حَدَّثَاهُ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ اسْتَأْذَنَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ عُقَيْلٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ

د حضرت عثمانؓ او عائشےؓ نه روایت دے چه ابوبکرؓ اجازت اوغوښتو د رسول اللهﷺ نه (مخکښ حدیث) د زهری نه د عقیل روایت کړی شوی حدیث پشان حدیث بیان کړو.

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَائِطٍ مِنْ حَائِطِ الْمَدِينَةِ وَهُوَ مُتَّكِئٌ يَرْكُزُ بِعُودٍ مَعَهُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّينِ إِذَا اسْتَفْتَحَ رَجُلٌ فَقَالَ افْتَحْ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ قَالَ فَإِذَا أَبُو بَكْرٍ فَفَتَحْتُ لَهُ وَبَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ قَالَ ثُمَّ اسْتَفْتَحَ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ افْتَحْ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ قَالَ فَذَهَبْتُ فَإِذَا هُوَ عُمَرُ فَفَتَحْتُ لَهُ وَبَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ ثُمَّ اسْتَفْتَحَ رَجُلٌ آخَرُ قَالَ فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ افْتَحْ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تَكُونُ قَالَ فَذَهَبْتُ فَإِذَا هُوَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ قَالَ

د ابوموسیٰ اشعریؓ نه روایت دے وائی چه یو خل رسول اللهﷺ د مدینے په یو باغ کښ وو تکیه ئے لګولے وه. او یو لرګے ئے په ختو کښ تغږوو چه په دے کښ یو سړی د دروازے بیرته کولو اووے. حضرت ﷺ اوفرمائیل بیرته کړه دے لره او د جنت خوشخبری ئے ورکړه. راوی وائی چا چه بیرته کوله هغه ابوبکرؓ وو. راوی وائی ما دروازه بیرته کړه او هغوی د جنت زیرے ورکړو. بیا بل سړی د دروازے بیرته کولو اووے. حضرت ﷺ اوفرمائیل دروازه بیرته کړه او هغهٔ ته ئے د جنت خوشخبری یعنی زیرے ورکړو. بیا دریم سړی د دروازے بیرته کولو اووے. حضرت ﷺ کیښناستو او اوئے فرمائیل بیرته کړه او هغهٔ ته د جنت زیرے ورکړه او په دهٔ به یوه غوښتنه وی زهٔ ورواغلم. نو هغه عثمانؓ خوئ د عفان وو. ما دروازه بیرته کړهٔ او

فَفَتَحْتُ وَبَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ قَالَ وَقُلْتُ الَّذِي قَالَ فَقَالَ اللَّهُمَّ صَبْرًا أَوِ اللهُ الْمُسْتَعَانُ

هغهٔ ته مې د جنت زيرے ورکړو او د دعوت ذکر مې اوکړو. هغوی اوے يا الله ماله صبر راکړه او ته مدد ګار نے[1]

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ حَائِطًا وَأَمَرَنِي أَنْ أَحْفَظَ الْبَابَ بِمَعْنَى حَدِيثِ عُثْمَانَ بْنِ غِيَاثٍ

د ابوموسیٰ اشعریؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ يو باغ ته تشريف يوړلو او ما ته ئے اوفرمائيل ته په دروازه پهره ورکوه بيانے بيان کړو حديث د پورتنی پشان

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّهُ تَوَضَّأَ فِي بَيْتِهِ ثُمَّ خَرَجَ فَقَالَ لَأَلْزَمَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَأَكُونَنَّ مَعَهُ يَوْمِي هَذَا قَالَ فَجَاءَ الْمَسْجِدَ فَسَأَلَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا خَرَجَ وَجَّهَ هَاهُنَا قَالَ فَخَرَجْتُ عَلَى أَثَرِهِ أَسْأَلُ عَنْهُ حَتَّى دَخَلَ بِئْرَ أَرِيسٍ قَالَ فَجَلَسْتُ عِنْدَ الْبَابِ وَبَابُهَا مِنْ جَرِيدٍ حَتَّى قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجَتَهُ وَتَوَضَّأَ فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ قَدْ جَلَسَ عَلَى بِئْرِ أَرِيسٍ وَتَوَسَّطَ قُفَّهَا وَكَشَفَ عَنْ سَاقَيْهِ وَدَلَّاهُمَا فِي الْبِئْرِ قَالَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ ثُمَّ انْصَرَفْتُ فَجَلَسْتُ عِنْدَ الْبَابِ فَقُلْتُ لَأَكُونَنَّ بَوَّابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَوْمَ فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ فَدَفَعَ الْبَابَ فَقُلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ فَقُلْتُ عَلَى رِسْلِكَ قَالَ ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقُلْتُ يَا

د موسیٰ اشعریؓ نه روايت دے چه هغوی په خپل کور کښ اودس اوکړو. بيا راااووتو او اوئے وئيل زهٔ ملامت کوم نن ورځ د رسول الله ﷺ او د هغوی به ملګرے يم هغه جماعت ته راغے او تپوس ئے اوکړو حضرت ﷺ کوم خائے دے خلقو اووے په دے طرف تلے دے. ابوموسیٰؓ هم د حضرت ﷺ د قدمونو په نخښه باندے تپوس کوو او په هغه طرف لاړو. تردے پورے چه به بئر اريس باندے اوريدو (بئر اريس يو کوهے دے د مدينے نه بهر) ابوموسیٰ اووے زهٔ په دروازه کښ کيښناستم او د هغے دروازه د لرګی وه تردے پورے چه حضرت ﷺ د حاجت نه فارغ شو او اودس ئے اوکړو. بيا زهٔ د هغوی خواله لاړم. حضرت ﷺ به په کوهی باندے کيښناستهٔ د هغے په غاړه باندے به ئے پنډئ ښکاره کړے او کوهی ته به ئے او ځنګولے. ما سلام اوکړو. بيا زهٔ واپس شوم او په دروازه کښ کيښناستم. ما اووے زهٔ د رسول الله ﷺ بواب نن جوړيږم (په دروازه ولاړ سړے). په دے کښ ابوبکر صديقؓ راغے او دروازه ئے اوټکوله ما اووے څوک دے؟ هغوی اووے ابوبکرؓ. ما اووے اودريږه. بيا زهٔ لاړم او ما عرض اوکړو يا رسول الله ابوبکرؓ راغلے دے او اجازت

[1] په دے حديث کښ يو لويه معجزه ده څنګه چه حضرت ﷺ د مخکښ نه خبر ورکړو هم هغه شان اوشوه. و په حضرت عثمانؓ باندے يو لويې دعوت اوشو. آخر هغوی صبر اوکړو او شهيد شو. إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ.

رَسُوْلَ اللهِ هٰذَا أَبُوْ بَكْرٍ يَسْتَأْذِنُ فَقَالَ ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ قَالَ فَأَقْبَلْتُ حَتّٰى قُلْتُ لِأَبِيْ بَكْرٍ ادْخُلْ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَشِّرُكَ بِالْجَنَّةِ قَالَ فَدَخَلَ أَبُوْ بَكْرٍ فَجَلَسَ عَنْ يَمِيْنِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهُ فِي الْقُفِّ وَدَلّٰى رِجْلَيْهِ فِي الْبِئْرِ كَمَا صَنَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَشَفَ عَنْ سَاقَيْهِ ثُمَّ رَجَعْتُ فَجَلَسْتُ وَقَدْ تَرَكْتُ أَخِيْ يَتَوَضَّأُ وَيَلْحَقُنِيْ فَقُلْتُ إِنْ يُرِدِ اللهُ بِفُلَانٍ يُرِيْدُ أَخَاهُ خَيْرًا يَأْتِ بِهِ فَإِذَا إِنْسَانٌ يُحَرِّكُ الْبَابَ فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقُلْتُ عَلٰى رِسْلِكَ ثُمَّ جِئْتُ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ وَقُلْتُ هٰذَا عُمَرُ يَسْتَأْذِنُ فَقَالَ ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَجِئْتُ عُمَرَ فَقُلْتُ أَذِنَ وَيُبَشِّرُكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجَنَّةِ قَالَ فَدَخَلَ فَجَلَسَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقُفِّ عَنْ يَسَارِهِ وَدَلّٰى رِجْلَيْهِ فِي الْبِئْرِ ثُمَّ رَجَعْتُ فَجَلَسْتُ فَقُلْتُ إِنْ يُرِدِ اللهُ بِفُلَانٍ خَيْرًا يَعْنِيْ أَخَاهُ يَأْتِ بِهِ فَجَاءَ إِنْسَانٌ فَحَرَّكَ الْبَابَ فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا فَقَالَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقُلْتُ عَلٰى رِسْلِكَ قَالَ وَجِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

غواړي. حضرتﷺ اوفرمائیل هغوی ته اجازت ورکړه او د جنت زیرے پرے اوکړه. زهٔ راغلم او ابوبکرؓ ته مے اووے دننه راشه رسول اللهﷺ تا ته د جنت زیرے درکوی. ابوبکر راغےاو د حضرتﷺ نه ښی طرفته د کوهی په غاړه کیښناستو او د رسول اللهﷺ پشان ئے خپے کوهے ته زوړندے کړےاو پنډئ ئے ښکاره کړه. زهٔ واپس شوم او په دروازه کښ کیښناستم. او ما خپل رور په اودس کولو پریخودے وو او زهٔ ترے راغلے وم. هغهٔ خما ملاقات کونکے وو. ما (په خپل زړهٔ کښ) اووے کهٔ اللهؓ ته د هغهٔ بهتری منظوره وی نو هغه به هم راولی. ناځاپه یو سړی دروازه اوټکوله. ما اووے څوك دے هغوی اووے عمر بن خطابؓ. ما اووے اودریږه. او زهٔ د رسول اللهﷺ خواله راغلم او سلام مے اوکړو او عرض مے اوکړو عمرؓ اجازت غواړی. حضرتﷺ اوفرمائیل هغهٔ ته اجازت ورکړه او د جنت زیرے ورته ورکړه. هغه دننه راغے. او د حضرتﷺ نه ګس طرفته د کوهی په غاړه کیښناستهٔ او د رسول اللهﷺ پشان ئے خپے کوهی ته زوړندے کړے او پنډئ ئے ښکاره کړے. زهٔ واپس شوم او په دروازه کښ کیښناستم. او ما خپل رور په اودس کولو پریخودے وو او زهٔ ترے راغلے وم. هغهٔ خما سره ملاقات کونکے وو. ما (په خپل زړهٔ کښ) اووے کهٔ الله ته د هغهٔ بهتری منظوره وی نو هغه به هم راولی. بیا یو سړے راغے او دروازه ئے اوټکوله ما اووے څوك دے؟ هغهٔ اووے عثمان بن عفانؓ ما اووے اودریږه. او زهٔ د رسول اللهﷺ خواله لاړم او بیان مے ورته اوکړو. حضرتﷺ اوفرمائیل هغوی ته اجازت ورکړه او د جنت زیرے ورته ورکړه. مګر د هغے سره یو آفت هم دے. زهٔ راغلم او ما اووے دننه راځه او رسول اللهﷺ

وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ مَعَ بَلْوَى تُصِيبُهُ قَالَ فَجِئْتُ فَقُلْتُ ادْخُلْ وَيُبَشِّرُكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجَنَّةِ مَعَ بَلْوَى تُصِيبُكَ قَالَ فَدَخَلَ فَوَجَدَ الْقُفَّ قَدْ مُلِئَ فَجَلَسَ وِجَاهَهُمْ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ قَالَ شَرِيكٌ فَقَالَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ فَأَوَّلْتُهَا قُبُورَهُمْ

د جنت زیرے درکوی خو د یو افت سره. هغه چه راغے او نے کتل نو په غاره (د کوهي) باندے خائے پاتے نه وو. نو هغه د حضرت ﷺ په مخکښې په بل طرف کیښناستو. شریك وائی چه سعید بن مسیب وئیلی دی چه ما دد ے حدیث نه دا اخذ کړه چه د دوی قبرونه به هم په داسےشان وی (او هم دغسے اوشوه. حضرت عثمانؓ ته په هغه حجره کښې خائے میلاؤ نه شو. هغه د حضرت ﷺ مخے ته په بقیع کښې دفن شو)

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ خَرَجْتُ أُرِيدُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدْتُهُ قَدْ سَلَكَ فِي الْأَمْوَالِ فَتَبِعْتُهُ فَوَجَدْتُهُ قَدْ دَخَلَ مَالًا فَجَلَسَ فِي الْقُفِّ وَكَشَفَ عَنْ سَاقَيْهِ وَدَلَّاهُمَا فِي الْبِئْرِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ حَسَّانَ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ سَعِيدٍ فَأَوَّلْتُهَا قُبُورَهُمْ

د ابوموسٰی اشعریؓ نه روایت دے چه زهٔ د رسول الله ﷺ د تلاش کولو په اراده راووتم. نو ما اوموندو هغوی لره چه د باغونو په طرف تلے دے. بیا ما هغوی لره په یو باغ کښې اوموندو چه حضرت ﷺ د کوهي په غاره باندے ناست وو او پنډۍ مبارکے ئے ښکاره وے او خپے ئے کوهي ته زوړندے کړے وے. بیا ئے بیان کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته تیر شو خو په دے کښې د سعید قول مذکور نهٔ دے.

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا إِلَى حَائِطٍ بِالْمَدِينَةِ لِحَاجَتِهِ فَخَرَجْتُ فِي إِثْرِهِ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ وَذَكَرَ فِي الْحَدِيثِ قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ فَتَأَوَّلْتُ ذَلِكَ قُبُورَهُمْ اجْتَمَعَتْ هَاهُنَا وَانْفَرَدَ عُثْمَانُ

د ابوموسٰی اشعریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ د مدینے د یو باغ په طرف اووتهٔ نو زهٔ د حضرت ﷺ د قدم په نخښه حضرت لره د لټولو دپاره اووتلم مخکښې پوره حدیث ئے بیان کړو د سلیمان بن بلال د حدیث پشان (یعنی د پورتنی حدیث په شان او په دے حدیث کښې دا هم دی چه ابن مسیب اووئیل چه ما دد ے نه د هغوی د قبرونو د یو خائے کیدو او د حضرت عثمانؓ د قبر د جدا کیدو تاویل وکړو.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ

باب : د حضرت علی بن ابی طالبؓ فضیلت

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ

د سعدبن ابی وقاصؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ أَنْتَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي قَالَ سَعِيدٌ فَأَحْبَبْتُ أَنْ أُشَافِهَ بِهَا سَعْدًا فَلَقِيتُ سَعْدًا فَحَدَّثْتُهُ بِمَا حَدَّثَنِي عَامِرٌ فَقَالَ أَنَا سَمِعْتُهُ فَقُلْتُ آنْتَ سَمِعْتَهُ فَوَضَعَ إِصْبَعَيْهِ عَلَى أُذُنَيْهِ فَقَالَ نَعَمْ وَإِلَّا فَاسْتَكَّتَا

اوفرمائیل حضرت علی ته خما په خوا کښې داسې ئې لکه څنګه چه حضرت هارون وو د موسیٰ سره مګر خما نه پس یو نبی نشته دے. سعید وائی ما غوښتل چه دا حدیث پخپله د سعد نه واورم. نو زۀ د سعد سره میلاؤ شوم او کوم چه عامر حدیث بیان کړے وو هغه مے ورته واورو وو. سعد اووے ما دا حدیث اوریدلے دے. ما اووے تا اوریدلے دے. هغوی ګوتے په خپلو دوارو غوږونو باندے کیښودے او اوئے وئیل کچرے مے اوریدلے نۀ وی. نو خما دواړه غوږونه د کانړۀ شی[1]

[1] په دے حدیث کښې د حضرت علی لوئے فضیلت دے چه د حضرت په امت کښې هغوی ته هغه مرتبه میلاؤ شوه کومه چه په بنی اسرائیلو کښې هارون علیه السلام ته وه. مګر فرق دومره دے چه حضرت هارون علیه السلام پیغمبر وو او حضرت علی پیغمبر نۀ وو ولے چه رسول الله خاتم الانبیاء وو د حضرت نه پس بل پیغمبر دنیا ته نۀ شی راتلے. هارون د موسیٰ رور وو او حضرت علی هم د حضرت د تره خوئے وو. دا حدیث حضرت هغه وخت اوفرمائیلو. هر کله چه حضرت د تبوک غزاله تلو. او حضرت علی ئے په مدینه منوره کښې خلیفه کړو. هغوی اووے تاسو ماله د ښځو او بچو سره پریږدئ او تاسو ځئ. پس حضرت دا حدیث اوفرمائیل نه خوشحالیږے نه چه ستا حال د هارون پشان دے. هر کله چه موسیٰ علیه السلام کوه طور ته تشریف وړے وو نو هارون ئے خپل خلیفه جوړ کړے وو دد دے حدیث نه دا مطلب نۀ دے چه خما د وفات نه پس به هم ته خما خلیفه ئے. ولے چه هارون د موسیٰ علیه السلام نه مخکښې انتقال کړے وو او د موسیٰ نه پس خلیفه شوے نۀ وو عرض دا چه وجه د تشبیهه صرف یوه هم کافی وی او دلته دوه وجے موجود دی یو قرابت چه لکه د هارون علیه السلام چه د موسیٰ علیه السلام سره وو. دویم خلافت په خپل قوم باندے. اوس په ټولو خبرو کښې د هارون په مثل کیدل ضروري نۀ دی. مګر هر کله چه په حدیث کښې دا ذکر دی چه خما نه پس بل یو نبی نشته دے نو معلومه شوه چه په نورو خبرو کښې د هارون مماثلت موجود دے. او د هارون یو صفت دا وو چه کۀ ژوندے هم وے نو د موسیٰ نه پس به په ټولو بنی اسرائیلو کښې افضل و. او په دے لحاظ سره د حضرت علی فضیلت په ټولو صحابو باندے ترے وتلے دے (د اهل سنت اجماع ده د صدیق د فضیلت په ټولو صحابو باندے. ۱۲عارف). لیکن په دے صورت کښې هم د شیخینو په خلافت کښې څۀ قدح نۀ راځی ځکه چه خلافت د مفضول باوجود د فاضل صحیح دے. خاصکر په دے صورت کښې هر کله چه د ابوبکر صدیق د خلافت په متعدد احادیثو کښې اشاره ده. او اجماع کړے ده په دے باندے صحابهٔ کرامو حتی چه حضرت علی هم د شپږو میاشتو نه پس بیعت اوکړو. په سراج الوهاج کښې دی چه استدلال د شیعه ګانو په دے حدیث سره مردود دے ولے چه خلافت په خپل خاندان کښې په حالت کښې د حیات خلافت امت ته د وفات نه پس مقتضی نۀ دے. او قیاس ختمیږی د حضرت هارون په وفات سره د حضرت موسیٰ نه مخکښې او هارون په یو خاص امر کښې خلیفه شوے وو د حضرت موسیٰ په ژوند کښې. بیا دغه شان د حضرت علی دپاره هم ګنړل پکار دی او خلافت جزئیه طور خصوصاً د خپل کور والاؤ د حفاظت دپاره خپل عزیز ته ورکول غوره دی په دے صورت کښې دا حدیث حجت دے په شیعه ګانو باندے نۀ چه د شیعه ګانو دپاره دے. انتهی مختصراً

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ خَلَّفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ تُخَلِّفُنِي فِي النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ فَقَالَ أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى غَيْرَ أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي

د سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت دے وائی رسول اللهﷺ حضرت علیؓ لره خلیفه کړو، په مدینه کښې هر کله چه حضرتﷺ د تبوک غزا ته تشریف وړلو. هغوی عرض اوکړو یا رسول اللهؐ تاسو ما لره د ښځو او بچو سره پریږدئ حضرتﷺ اوفرمائیل ته خوشحاله نهٔ ئے په دے خبره چه ستا درجه به خما په خوا کښې داسے وی لکه څنګه چه د هارونؑ وه د موسیٰؑ سره خو خما نه پس څوک پیغمبر نشته

عَنْ شُعْبَةَ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ

د شعبه نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ أَمَرَ مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ سَعْدًا فَقَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسُبَّ أَبَا التُّرَابِ فَقَالَ أَمَّا مَا ذَكَرْتُ ثَلَاثًا قَالَهُنَّ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَنْ أَسُبَّهُ لَأَنْ تَكُونَ لِي وَاحِدَةٌ مِنْهُنَّ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَهُ خَلَّفَهُ فِي بَعْضِ مَغَازِيهِ فَقَالَ لَهُ عَلِيٌّ يَا رَسُولَ اللَّهِ خَلَّفْتَنِي مَعَ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَا نُبُوَّةَ بَعْدِي وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ يَوْمَ خَيْبَرَ لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ رَجُلًا يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ قَالَ فَتَطَاوَلْنَا لَهَا فَقَالَ ادْعُوا لِي عَلِيًّا فَأُتِيَ بِهِ أَرْمَدَ فَصَقَ فِي عَيْنِهِ وَدَفَعَ الرَّايَةَ إِلَيْهِ فَفَتَحَ اللَّهُ

د سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت دے وائی هر کله چه معاویه بن ابی سفیانؓ سعدؓ لره امیر کړو. نو ورته ئے اووے ته ولے بد نهٔ وائے ابوتراب ته سعد اووے د درے خبرو په وجه چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. زهٔ حضرت علیؓ ته بد نهٔ وایم. کچرے د هغهٔ خبرو نه یوه هم ما ته حاصله شی نو هغه ما ته د سرو اوښانو نه زیاته غوره ده. ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه حضرتﷺ د یوے غزا په موقعه باندے حضرت علیؓ لره په مدینه کښې پریخودو. هغوی اووے یا رسول اللهؐ! تاسو زهٔ د ښځو او بچو سره پریخودم. حضرتﷺ اوفرمائیل ته په دے خبره راضی نهٔ ئے چه ستا درجه د خما سره داسے وی لکه چه د هارونؑ د موسیٰؑ سره وه. خو دومره ده چه خما نه پس نبی نشته. او ما اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه د خیبر په ورځ چه صبا به زهٔ داسے سړی له جهنډه (بیرغ) ورکوم چه محبت لری د اللهؐ او د هغهٔ د رسول اللهؐ سره او اللهؐ او د هغهٔ رسولؐ هم محبت لری د هغهٔ سره. ددے په اوریدو مونږ (په صباله) انتظار کولو. حضرتﷺ اوفرمائیل علی رااوغواړئ. هغه چه راغے نو سترګے ئے سوزیدلے حضرتﷺ د هغوی په سترګو کښې خپلے لاړے مبارکے

عَلَيْهِ وَلَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا وَفَاطِمَةَ وَحَسَنًا وَحُسَيْنًا فَقَالَ اللّٰهُمَّ هٰؤُلَاءِ أَهْلِي

پورے کړے او جهنډه (بيرغ) ئے هغوی ته حواله کړه. بيا الله تعالی فتح اوکړه د هغوی په لاس باندے. او هر کله چه دا آيت نازل شو چه رااوبه غواړو موږ خپلو ځامنو لره او تاسو خپلو ځامنو لره (يعنی آيات مباهله) نو حضرت ﷺ رااوغوښتو حضرت علی رضی الله عنه او فاطمه رضی الله عنها او حسن رضی الله عنه او حسين لره بيائے اووے دا ځما اهل دی [1].

عَنْ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لِعَلِيٍّ أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُوْنَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُوْسَى

د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته اوفرمائيل ته په دے خبره خوشحاله نۀ ئے چه ستا درجه ځما سره داسے ده لکه د هارون عليه السلام چه د مُوسیٰ سره وه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ لَأُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ رَجُلًا يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ يَفْتَحُ اللّٰهُ عَلَى يَدَيْهِ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ مَا أَحْبَبْتُ الْإِمَارَةَ إِلَّا يَوْمَئِذٍ قَالَ فَتَسَاوَرْتُ لَهَا رَجَاءَ أَنْ أُدْعَى لَهَا قَالَ فَدَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهَا وَقَالَ امْشِ وَلَا تَلْتَفِتْ حَتَّى يَفْتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكَ قَالَ فَسَارَ عَلِيٌّ شَيْئًا ثُمَّ وَقَفَ وَلَمْ يَلْتَفِتْ فَصَرَخَ يَا

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ اوفرمائيل خامخا به زۀ جهنډه هغه سړی له ورکوم چه هغه ملګرے وائی الله ته او د هغۀ رسول ته فتح به ورکړی الله تعالی د هغۀ په لاسو باندے حضرت عمر رضی الله عنه وائی ما د امارت آرزو چرته نۀ ده کړے مګر په هغه ورځ. بيا زۀ د حضرت ﷺ په مخکښې راغلم په دے اميد سره کچرے حضرت ﷺ د دغه کار دپاره ما اوغواړی. ليکن حضرت ﷺ حضرت علی رضی الله عنه رااوغښتو او جهنډه ئے هغۀ له ورکړه. او ورته ئے اووے ځه او اخوا ديخوا مۀ ګوره. الله تعالی به تاله فتح درکوی. بيا هغوی روغوندے ځۀ عرض اوکړو او د هغے نه پس لږ حصار شو او هيڅ يو طرفته ئے نۀ کتل بيائے په چغه اووے يا رسول الله! په څۀ

---

[1] ابوتراب کنيت دے د حضرت مرتضیٰ علی رضی الله عنه. په دے روايت کښې د معاويه رضی الله عنه په نسبت يو قباحت عائد کيږی. چه هغوی د رسول الله ﷺ د خپلولۍ او د حضرت علی رضی الله عنه د فضيلت مطلق خيال نۀ دے کړے. نووی رحمه الله وائی په دے کښې په يو صحابی باندے الزام راځی. او دَ دے تاويل ضروری دی په دے شان سره چه معاويه سعد ته بد وئيلو حکم نۀ دے ورکړے. بلکه د بد نۀ وئيلو د سبب تپوس ئے ترے کړے ے لکه معلومات ئے کول چه تۀ د بد وئيلو نه ولے پرهيز کوے. د هغوی د يرے نه يا دليل شرعی په وجه پرهيز کوے خو ټهيک کچرے د بلے نه نو د هغے جواب بل دے. او کيدے شی چه سعد ورته بد او نۀ وے انکار ئے اوکړو نو معاويه ترے د سبب او کيدے شی د بد وئيلو نه دا مقصود وی چه تۀ د هغوی اجتهادی خطايانے ولے نۀ بيانوے.

رَسُوْلَ اللهِ عَلٰی مَاذَا أُقَاتِلُ النَّاسَ قَالَ قَاتِلْهُمْ حَتّٰى يَشْهَدُوْا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ فَإِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ فَقَدْ مَنَعُوْا مِنْكَ دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ لَأُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ رَجُلًا يَفْتَحُ اللهُ عَلٰى يَدَيْهِ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ وَيُحِبُّهُ اللهُ وَرَسُوْلُهُ قَالَ فَبَاتَ النَّاسُ يَدُوْكُوْنَ لَيْلَتَهُمْ أَيُّهُمْ يُعْطَاهَا قَالَ فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَرْجُوْنَ أَنْ يُعْطَاهَا فَقَالَ أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِيْ طَالِبٍ فَقَالُوْا هُوَ يَا رَسُوْلَ اللهِ يَشْتَكِيْ عَيْنَيْهِ قَالَ فَأَرْسِلُوْا إِلَيْهِ فَأُتِيَ بِهِ فَبَصَقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ عَيْنَيْهِ وَدَعَا لَهُ فَبَرَأَ حَتّٰى كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ فَقَالَ عَلِيٌّ يَا رَسُوْلَ اللهِ أُقَاتِلُهُمْ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مِثْلَنَا فَقَالَ انْفُذْ عَلٰى رِسْلِكَ حَتّٰى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللهِ فِيْهِ فَوَاللهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُوْنَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ

خبره د خلقو سره اوجنګیږم حضرت ﷺ اوفرمائیل جنګیږه تر هغې پورې چه هغوی ګواهي ورکړي دا خبرې چه نشته دے معبود برحق مګر الله دے او بیشکه محمد د الله رسول الله ﷺ دے هر کله چه هغوی دا ګواهي ورکړي نو هغوی خپل ځان او مال لره ستا نه بچ کړو. مګر د چا د حق په بدله او د هغې حساب په الله باندے دے.

د سهل بن سعد نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د خیبر په ورځ اوفرمائیل چه خامخا به زۀ جهنډه (بیرغ) ورکوم د هغه سړي په لاس کښې چه د هغۀ په لاسونو به الله تعالی فتح ورکوي چه هغه محبت کوي د الله سره او د هغۀ د رسول سره. او الله او رسول هغۀ لره غواړي پس ټوله شپه خلقو دا ذکر کوو چه ګورو چه دا جهنډه (بیرغ) به حضرت ﷺ چا ته ورکوي. هر کله چه سحر شو نو ټول د رسول الله ﷺ خواله راغلو. او د هر یو دا اُمید وو چه دا جهنډه (بیرغ) به ماته میلاویږي. حضرت ﷺ اوفرمائیل علي بن ابي طالب چرته دے؟ خلقو عرض اوکړو یا رسول الله د هغوی سترګے سوزي. بیا ئے په هغوی پسے قاصد اولیږو. حضرت ﷺ د هغوی په سترګو کښې لاړے توکړے او هغوی ته ئے دُعا اوکړه. هغه (سترګے) ئے بالکل ښے شولے لکه چه هېڅ خوږ شوے هم نۀ وے. بیائے هغوی ته جهنډه ورکړله. حضرت علی عرض اوکړو چه یا رسول الله زۀ به د هغوی سره جنګیږم تر دے پورے چه هغه زمونږه پشان (مسلمانان) شي. حضرت ﷺ اوفرمائیل خه په قلاره تر دے پورے چه د هغوی په میدان کښې کوز شو. بیا به هغوی ته د اسلام دعوت ورکړے او خبر به ئے کړے د الله د هغه حق نه چه په هغوی باندے واجب دے. په الله قسم دے کۀ چرے الله تعالی ستا په وجه یو سړي ته هدایت اوکړي نو دغه غوره ده ستا دپاره د سرو اوښانو نه

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ كَانَ عَلِيٌّ قَدْ تَخَلَّفَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَيْبَرَ وَكَانَ رَمِدًا فَقَالَ أَنَا أَتَخَلَّفُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ عَلِيٌّ فَلَحِقَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا كَانَ مَسَاءُ اللَّيْلَةِ الَّتِي فَتَحَهَا اللهُ فِي صَبَاحِهَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ أَوْ لَيَأْخُذَنَّ بِالرَّايَةِ غَدًا رَجُلٌ يُحِبُّهُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَوْ قَالَ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ يَفْتَحُ اللهُ عَلَيْهِ فَإِذَا نَحْنُ بِعَلِيٍّ وَمَا نَرْجُوهُ فَقَالُوا هَذَا عَلِيٌّ فَأَعْطَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّايَةَ فَفَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ

د سلمه بن اکوع نه روایت دے وائی چه حضرت علیؓ د خیبر په ورخ روستو پاتے شو. د هغوی سترګے خوږیدلے. بیا هغوی اووے چه زۀ به رسول اللهﷺ پریږدم او روستو به یم (دا څنګه کیدے شی) او رااووتو او یو ځائے شو د حضرتﷺ سره. هر کله چه هغه شپه شوه د کومے په سحر چه فتح اوشوه نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل خامخا دا جهنډه زۀ هغه چاله ورکوم یا دا جهنډه به هغه سړے اخلی په صباله چه هغه لره اللهؒ او د هغۀ رسول غواړی. یا هغه اللهؒ او د هغۀ رسولؐ غواړی. یا هغه الله او د هغۀ رسول غواړی الله به د هغۀ په لاسونو باندے فتح ورکوی. بیا ناڅاپه مونږ حضرت علیؓ لره اولیدو چه زمونږ امید نۀ وو چه دۀ ته به جهنډه میلاویږی. خلقو اووے دا علیؓ دے. او هم دۀ ته رسول اللهﷺ جهنډه ورکړے ده. بیا الله تعالی فتح اوکړه د هغوی په لاسونو باندے.

عَنْ يَزِيدَ بْنِ حَيَّانَ قَالَ انْطَلَقْتُ أَنَا وَحُصَيْنُ بْنُ سَبْرَةَ وَعُمَرُ بْنُ مُسْلِمٍ إِلَى زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ فَلَمَّا جَلَسْنَا إِلَيْهِ قَالَ لَهُ حُصَيْنٌ لَقَدْ لَقِيتَ يَا زَيْدُ خَيْرًا كَثِيرًا رَأَيْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَمِعْتَ حَدِيثَهُ وَغَزَوْتَ مَعَهُ وَصَلَّيْتَ خَلْفَهُ لَقَدْ لَقِيتَ يَا زَيْدُ خَيْرًا كَثِيرًا حَدِّثْنَا يَا زَيْدُ مَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا ابْنَ أَخِي وَاللهِ لَقَدْ كَبِرَتْ سِنِّي وَقَدُمَ عَهْدِي وَنَسِيتُ بَعْضَ الَّذِي كُنْتُ أَعِي مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا حَدَّثْتُكُمْ فَاقْبَلُوا وَمَا لَا فَلَا

د یزید بن حیان نه روایت دے وائی چه زۀ او حصین بن سبره او عمر بن مسلم د زید بن ارقم خواله لاړو هر کله چه مونږ د هغوی سره کیښناستو نو حصین اووے. اے یزیده تا ښو لویه نیکی حاصله کړیده. تا سو رسول اللهﷺ لیدلے دے د هغوی حدیث مو اوریدلی دی د هغوی سرهد یو ځائے جهاد کړے دے او په هغوی پسے روستو د مونځ کړے دے. تاسو ډیر ثواب ګټلے دے. مونږ ته څۀ حدیث بیان کړه چه تا د رسول اللهﷺ نه اوریدلی وی. زید اووے اے څما ورارۀ! څما عمر ډیر تیر شو او ډیره موده اوشوه. بعض خبرے چه هغۀ ما ته د رسول اللهﷺ نه یادے وے را نه هیرے شوے دی. خو زۀ چه کومے بیان کړم هغه قبولے کړه او کومے چه بیان نۀ کړم د هغے دپاره ماله تکلیف مۀ راکوه. بیا زیدؓ اووے رسول

تُكَلِّفُونَنِيهِ ثُمَّ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فِينَا خَطِيبًا بِمَاءٍ يُدْعَى خُمًّا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَوَعَظَ وَذَكَّرَ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ رَسُولُ رَبِّي فَأُجِيبَ وَأَنَا تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ أَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللهِ فِيهِ الْهُدَى وَالنُّورُ فَخُذُوا بِكِتَابِ اللهِ وَاسْتَمْسِكُوا بِهِ فَحَثَّ عَلَى كِتَابِ اللهِ وَرَغَّبَ فِيهِ ثُمَّ قَالَ وَأَهْلُ بَيْتِي أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي فَقَالَ لَهُ حُصَيْنٌ وَمَنْ أَهْلُ بَيْتِهِ يَا زَيْدُ أَلَيْسَ نِسَاؤُهُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ قَالَ نِسَاؤُهُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ وَلَكِنْ أَهْلُ بَيْتِهِ مَنْ حُرِمَ الصَّدَقَةَ بَعْدَهُ قَالَ وَمَنْ هُمْ قَالَ هُمْ آلُ عَلِيٍّ وَآلُ عَقِيلٍ وَآلُ جَعْفَرٍ وَآلُ عَبَّاسٍ قَالَ كُلُّ هَؤُلَاءِ حُرِمَ الصَّدَقَةَ قَالَ نَعَمْ

عَنْ أَبِي حَيَّانَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ إِسْمَعِيلَ وَزَادَ فِي حَدِيثِ جَرِيرٍ كِتَابُ اللهِ فِيهِ الْهُدَى وَالنُّورُ مَنِ اسْتَمْسَكَ بِهِ وَأَخَذَ بِهِ كَانَ عَلَى الْهُدَى وَمَنْ أَخْطَأَهُ ضَلَّ

الله ﷺ یوه ورځ د خطبې اوروولو دپاره اودریدو په مونږ خلقو کښې په یو اوبو باندې چه هغې ته به ئې خم وئیلو د مکې او مدینې په مینځ کښې. حضرت د الله ثنا او صفت بیان کړو. او وعظ نصیحت ئې اوکړو. او بیائې د هغې نه پس اوفرمائیل اے خلقو! زۀ بنیادم یم نزدې ده چه ځما د پروردګار رالیږلے شوے (د مرګ فرښته) راشي او زۀ ئې قبول کړم زۀ په تاسو کښې دوه لوئې لوئې څیزونه پریږدم رومبے خو د الله کتاب چه په دې کښې هدایت دے او نور دے نو د الله په کتاب ټینګ شئ. او دې لره مضبوط اونیسئ. غرض دا چه حضرت رغبت ورکړو د الله د کتاب په طرف. بیائې اوفرمائیل دویم څیز ځما اهل بیت دي. زۀ د خپلو اهل بیتو په باره کښې تاسو ته د الله یاد درکوم حصین اووے اے زیده ! د حضرت ﷺ اهل بیت څوك دي ولې د حضرت ﷺ بیبیانې اهل بیت نۀ دي؟ زید اووے بیبیانې ئې هم په اهل بیتو کښې داخلې دي. لیکن اهل بیت هغه دي په چا باندې چه زکوٰة حرام دے. حصین اووے هغه کوم خلق دي. زید اووے هغه د علی او عقیل او جعفر او عباس اولاد دے. حصین اووے په ټولو باندې صدقه حرامه ده؟ زید اووے آو![1]

د ابوحیان نه په دې اسناد سره اسمٰعیل (راوی) د حدیث پشان روایت دے او د جریر په حدیث کښې دومره زیاته ده چه د الله په کتاب کښې هدایت دے او نور دے څوك چه دې لره اونیسي هغه به په هدایت وي او څوك چه ئې پریږدي هغه به بے لارې کیږي.

---

[1] دا حدیث حضرت ﷺ د هجرت په نهم کال د حجة الوداع نه په واپسئ کښې اوفرمائیلو ددې نه پس د حضرت ﷺ انتقال اوشو حضرت ﷺ آخري وصیت د ټولو عربو قومونو په مخکښې داوو چه په قران باندې عمل کوئ په دې باندې منګلې اولګوئ او هدایت ترې اخلئ حم : اهل بیتو خیال ساتئ. د هغوی سره محبت ساتئ او هغوی ته تکلیف مۀ ورکوئ. په دې نصیحت باندې علاوه د اهل سنتو والجماعتو نه یوه فرقه قائمه نۀ ده خوارجو اهل بیت پریخودل او د هغوی دشمنان شول او رافضو د قران نه مخ واړوو

عَنْ يَزِيدَ بْنِ حَيَّانَ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ دَخَلْنَا عَلَيْهِ فَقُلْنَا لَهُ لَقَدْ رَأَيْتَ خَيْرًا لَقَدْ صَاحَبْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَّيْتَ خَلْفَهُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ أَبِي حَيَّانَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَلَا وَإِنِّي تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ أَحَدُهُمَا كِتَابُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ هُوَ حَبْلُ اللهِ مَنِ اتَّبَعَهُ كَانَ عَلَى الْهُدَى وَمَنْ تَرَكَهُ كَانَ عَلَى ضَلَالَةٍ وَفِيهِ فَقُلْنَا مَنْ أَهْلُ بَيْتِهِ نِسَاؤُهُ قَالَ لَا وَايْمُ اللهِ إِنَّ الْمَرْأَةَ تَكُونُ مَعَ الرَّجُلِ الْعَصْرَ مِنَ الدَّهْرِ ثُمَّ يُطَلِّقُهَا فَتَرْجِعُ إِلَى أَبِيهَا وَقَوْمِهَا أَهْلُ بَيْتِهِ أَصْلُهُ وَعَصَبَتُهُ الَّذِينَ حُرِمُوا الصَّدَقَةَ بَعْدَهُ.

د یزید بن حیان نه روایت دے هغوی اووے چه مونږ د زید بن ارقم خواله لاړو. او مونږ اووے تاسو ډیر ثواب ګټلے دے چه د حضرت ﷺ په صحبت کښې پاتے شوی یئ او د هغوی په اقتداء کښې مو مونځ کړے دے او بیان ئے کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته تیر شو په دے کښې دادی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ په تاسو کښې دوه درانۀ څیزونه پرېږدم. یو خو د الله کتاب دے چه د الله رسۍ ده. څوک چه دد ے تابعداری کوی هغه به په هدایت باندے وی. او څوک چه دے لره پرېږدی هغه به ګمراه کیږی. او په دے روایت کښې دادی چه مونږ اووے. اهل بیت کوم خلق دی بیبیانے د حضرت ﷺ دی؟ زید اووے نه قسم په الله دے چه ښځه خود یو مُدے پورے د سړی سره اوسیږی بیا چه هغه هغے لره طلاق ورکړی نو د خپل پلار او قوم په طرف لاړه شی. اهل بیت خو د حضرت ﷺ د نسل خلق او عصبه دی چه په هغوی باندے صدقه حرامه ده د حضرت ﷺ نه روستو[1].

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ اسْتُعْمِلَ عَلَى

د سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه په مدینه باندے د مروان د اولاد

---

[1] نووی وائی زمونږ په نز هغه بنی هاشم او بنی مطلب دی. په دے دواړو باندے صدقه حرامه ده. او د مالک په نز صرف بنی هاشم دی او خنو وئیلی دی چه بنو قصی او خنو وئیلی دی چه قریش دی. په دے روایت کښې چه ئے بیبیانے د اهل بیتو نه خارجے کړے دد ے نه معلومیږی چه ټول قریش اهل بیت نۀ دی. ورنه د حضرت ﷺ څو بیبیانے لکه حضرت عائشه او حفصه او ام سلمه او سوده او ام حبیبه قُرشی وے. او په یو روایت کښې زید ازواج مطهرات لره په اهل بیتو کښې داخلے کړے دی. او په بل روایت کښې ئے خارجے کړے دی په دے دواړو روایتونو کښې تطبیق داسے دے. چه د اهل بیتو نه دوه معانے مراد دی. یو خو هغه اهل بیت چه په کور کښې اوسیږی یعنی عیال چه د هغوی د اکرام او احترام حکم دے او په دے کښې ازواج مطهرات هم داخلے دی. او په قران کښې چه کمو د تطهیر آیت راغلے دے هغه د اهل بیتو په دغه معنی کښې وارد دے. او قرینه د هغے داده چه دد ے آیت په اول او آخر کښې د حضرت ﷺ د بیبیانو ذکر دے او دهغوی په طرف خطاب دے او د حضرت ابراهیم د بی بی په نسبت په قرآن مجید کښې د اهل بیت لفظ موجود دے. او بوه معنی د اهل بیت داده چه په هغوی باندے صدقه حرامه وی په هغے کښې بیبیانے داخلے نۀ دی. بلکه هغه بنی هاشم او بنی مطلب دی یا صرف بنی هاشم (نووی مع زیادة)

الْمَدِينَةِ رَجُلٌ مِنَ آلِ مَرْوَانَ قَالَ فَدَعَا سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ فَأَمَرَهُ أَنْ يَشْتِمَ عَلِيًّا قَالَ فَأَبَى سَهْلٌ فَقَالَ لَهُ أَمَّا إِذْ أَبَيْتَ فَقُلْ لَعَنَ اللهُ أَبَا التُّرَابِ فَقَالَ سَهْلٌ مَا كَانَ لِعَلِيٍّ اسْمٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَبِي التُّرَابِ وَإِنْ كَانَ لَيَفْرَحُ إِذَا دُعِيَ بِهَا فَقَالَ لَهُ أَخْبِرْنَا عَنْ قِصَّتِهِ لِمَ سُمِّيَ أَبَا تُرَابٍ قَالَ جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْتَ فَاطِمَةَ فَلَمْ يَجِدْ عَلِيًّا فِي الْبَيْتِ فَقَالَ أَيْنَ ابْنُ عَمِّكِ فَقَالَتْ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ شَيْءٌ فَغَاضَبَنِي فَخَرَجَ فَلَمْ يَقِلْ عِنْدِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِإِنْسَانٍ انْظُرْ أَيْنَ هُوَ فَجَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هُوَ فِي الْمَسْجِدِ رَاقِدٌ فَجَاءَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُضْطَجِعٌ قَدْ سَقَطَ رِدَاؤُهُ عَنْ شِقِّهِ فَأَصَابَهُ تُرَابٌ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُهُ عَنْهُ وَيَقُولُ قُمْ أَبَا التُّرَابِ قُمْ أَبَا التُّرَابِ

نه يو سړے حاکم شو. هغه سهل رااوغوښتو او د حضرت علیؓ په باره کښې د کنځلو کولو حکم ئے ورته اوکړو . سهل انکار اوکړو. هغه سړی اووے چه تهٔ د کنځلو نه انکار کوے نو اووایه چه لعنت د الله د وی په ابوتراب باندے. سهل اووے حضرت علیؓ ته هیڅ یو نوم د ابوتراب نهٔ زیات غوره نهٔ وو. او هغه به ددے نوم په آواز کولو سره خوشحالیدو. هغه سړی اووے چه ددے قصه بیان کړه چه د هغهٔ نوم ابوتراب څنګه شوے وو؟ سهل اووے رسول الله ﷺ د فاطمة زهراءؓ کورته تشریف یوړو. نو حضرت علیؓ ئے اونهٔ موندو. حضرت ﷺ تپوس اوکړو ستا د ترهٔ خوئے چرته دے؟ هغے اووے زما او د هغهٔ په مینځ کښې څهٔ خبرے راغلے وے. هغه د غصے نه لاړو او دلته اودهٔ نهٔ شو. رسول الله ﷺ یو سړی ته اوفرمائیل اوګوره چه حضرت علیؓ چرته دے؟ هغه راغے او اوئے وئیل یا رسو الله ﷺ! علی په جماعت کښې اودهٔ شوے دے. حضرت ﷺ د علیؓ خواله تشریف یوړلو . هغه اودهٔ وو او څادر د هغهٔ د ډډے نه بیرته شوے وو (او د هغهٔ بدن په خاؤرو) خړ شوے وو. رسول الله ﷺ ترے هغه خاؤرے څنډل شروع کړل او ورته ئے فرمائیل پاسه اے ابوتراب پاسه اے ابوتراب.[1]

بَابُ فِي فَضْلِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَرِقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَقَالَ لَيْتَ رَجُلًا

باب : د سعد بن ابی وقاص ؓ فضیلت

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه یوه شپه د رسول الله ﷺ سترګے اوغړیدے او خوب ئے اوتښتیدو. حضرت ﷺ اوفرمائیل

[1] نو رسول الله ﷺ د علیؓ نوم ابوتراب کیښودو ددے وجے نه د هغوی دا نوم ډیر خوښ وو په دے حدیث کښې د حضرت علیؓ د لوئے نه لوئے فضیلت ظاهر شو . او دا هم ثابته شوه چه په جماعت کښې اوده کیدل جائز دی (خو بغیر شرعی عذره صحیح نهٔ دی. مصحح). او کوم سړے چه خفه شوے وی هغهٔ پخلا کول او د هغهٔ خواله تلل مستحب دی.

صَالِحًا مِنْ أَصْحَابِي يَحْرُسُنِي اللَّيْلَةَ قَالَتْ وَسَمِعْنَا صَوْتَ السِّلَاحِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا قَالَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ يَا رَسُولَ اللهِ جِئْتُ أَحْرُسُكَ قَالَتْ عَائِشَةُ فَنَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى سَمِعْتُ غَطِيطَهُ

کاش چه ځما د صحابۇ نه یو نیك بخت توله شپه ځما حفاظت اوکړے. حضرت عائشهؓ وائی په دے کښ مونږ د وسلے آواز واوریدۀ رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوك ئې؟ جواب راغے سعد خوئ د ابو وقاص یا رسول الله! زۀ حاضر یم ستاسو په خواه کښ د پهرے ورکولو دپاره. حضرت عائشےؓ اووے. بیا رسول الله ﷺ اوده شو تر دے پورے چه ما د حضرت ﷺ د خرانړې آواز واوریدۀ.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَهِرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْدَمَهُ الْمَدِينَةَ لَيْلَةً فَقَالَ لَيْتَ رَجُلًا صَالِحًا مِنْ أَصْحَابِي يَحْرُسُنِي اللَّيْلَةَ قَالَتْ فَبَيْنَا نَحْنُ كَذٰلِكَ سَمِعْنَا خَشْخَشَةَ سِلَاحٍ فَقَالَ مَنْ هٰذَا قَالَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا جَاءَ بِكَ قَالَ وَقَعَ فِي نَفْسِي خَوْفٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَجِئْتُ أَحْرُسُهُ فَدَعَا لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ ثُمَّ نَامَ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ رُمْحٍ فَقُلْنَا مَنْ هٰذَا

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه یوه شپه رسول الله ﷺ ویخ شو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. کاش ځما په صحابۇ کښ څوك نیك بخت توله شپه ځما حفاظت اوکړی. حضرت عائشهؓ وائی چه مونږ په دے حال کښ وو چه مونږ د وسلے آواز واوریدۀ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك یے؟ هغوی اووے چه ځۀ سعد بن ابی وقاص یم حضرت ﷺ اوفرمائیل څنگه راغلے یے نو هغوی اووے چه ځما په زړۀ کښ یره پیدا شوه د رسول الله ﷺ په باره کښ نو زۀ راغلم ستاسو د پهرے ورکولو دپاره حضرت ﷺ د هغوی ته دُعا اوکړه بیا حضرت ﷺ اوده شو.

عَنْ عَائِشَةَ أَرِقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه یو شپه رسول الله ﷺ ویخ شو. د سلیمان بن بلال د حدیث پشان.

عَنْ عَلِيٍّ يَقُولُ مَا جَمَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ لِأَحَدٍ غَيْرِ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ فَإِنَّهُ جَعَلَ يَقُولُ لَهُ يَوْمَ أُحُدٍ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي

د حضرت علیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ خپل مور او پلار لره د هیچا دپاره جمع کړی نۀ دی (یعنی دائے نۀ دی فرمائیلی چه ځما پلار او مور د ستا نه قربان شی) مگر د سعد بن مالك (یعنی د سعد بن ابی وقاص) دپاره حضرت ﷺ د أحد په ورځ هغوی ته اوفرمائیل أوله غشے اے سعد! ځما مور او پلار د په تا قربان شی.

عَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

حضرت علیؓ د نبی ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان حدیث روایت کړو.

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ لَقَدْ جَمَعَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ

د سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ جمع کړل خما دپاره خپل مور پلار لره د أحد په ورځ

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د یحیی بن سعید نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ سَعْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ لَهُ أَبَوَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ قَالَ كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَدْ أَحْرَقَ الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي قَالَ فَنَزَعْتُ لَهُ بِسَهْمٍ لَيْسَ فِيهِ نَصْلٌ فَأَصَبْتُ جَنْبَهُ فَسَقَطَ فَانْكَشَفَتْ عَوْرَتُهُ فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى نَظَرْتُ إِلَى نَوَاجِذِهِ

د سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د أحد په ورځ د هغوی دپاره خپل پلار مور لره جمع کړل سعدؓ وائی یو سړے وو د مشرکانو نه چه هغوی سیزلی وو مسلمانانو لره (یعنی ډیر مسلمانان ئے قتل کړی وو) رسول الله ﷺ اوفرمائیل غشے اوله اے سعدهٔ خما پلار او مور د په تا باندے قربان شی. ما د هغهٔ دپاره یو غشی رااووسته چه په هغے کښې سوکه نهٔ وه. هغهٔ غشے د هغهٔ په پښتئ باندے اولګیدهٔ او هغه اوغورځیدهٔ او شرمګاه ئے ښکاره شو. رسول الله ﷺ د دے په لیدو سره په خندا شو تر دے پورے چه ما د هغوی نواجز غاښونه اولیدل

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ نَزَلَتْ فِيهِ آيَاتٌ مِنَ الْقُرْآنِ قَالَ حَلَفَتْ أُمُّ سَعْدٍ أَنْ لَا تُكَلِّمَهُ أَبَدًا حَتَّى يَكْفُرَ بِدِينِهِ وَلَا تَأْكُلَ وَلَا تَشْرَبَ قَالَتْ زَعَمْتَ أَنَّ اللهَ وَصَّاكَ بِوَالِدَيْكَ وَأَنَا أُمُّكَ وَأَنَا آمُرُكَ بِهٰذَا قَالَ مَكَثَتْ ثَلَاثًا حَتَّى غُشِيَ عَلَيْهَا مِنَ الْجَهْدِ فَقَامَ ابْنٌ لَهَا يُقَالُ لَهُ عُمَارَةُ فَسَقَاهَا فَجَعَلَتْ تَدْعُو عَلَى سَعْدٍ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي الْقُرْآنِ هٰذِهِ الْآيَةَ وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا قَالَ وَأَصَابَ

د مصعب بن سعد نه روایت دے هغوی اوریدلی دی د خپل پلار نه چه د هغوی په باره کښې د قران څو ایتونه نازل شوی دی. د هغوی مور قسم خوړلے وو چه د هغهٔ سره به خبرے او نهٔ کړی هیڅکله نه به ورسره خوراك څکاك اوکړی د کومے پورے چه هغه خپل دین (یعنی د اسلام دین) پرېخودے نهٔ وی. هغے اووے الله تعالی تا ته حکم درکړے دے د پلار مور د فرمانبردارئ بیا د درے ورځو پورے هغه هم دغسے وه نهٔ ئے څهٔ خوړلو او نهٔ ئے څښلو. تر دے پورے چه بیهوشی پرے راغله آخر د هغے یو خوئ چه نوم ئے عماره وو پاڅیدو او په هغے ئے اوبهٔ اوڅښلے. هغے سعدؓ ته خیرے اوکړے. پس الله تعالی دا ایت نازل کړو. او مونږ حکم ورکړے دے سړی لره د خپل پلار مور سره د نیکئ کولو لیکن کهٔ هغه زور راولی په تا باندے چه شریك کړے ته خما سره هغه شے چه د هغے تا ته علم

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنِيمَةً عَظِيمَةً فَإِذَا فِيهَا سَيْفٌ فَأَخَذْتُهُ فَأَتَيْتُ بِهِ الرَّسُوْلَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ نَفِّلْنِي هَذَا السَّيْفَ فَأَنَا مَنْ قَدْ عَلِمْتَ حَالَهُ فَقَالَ رُدَّهُ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُ فَانْطَلَقْتُ حَتَّى إِذَا أَرَدْتُ أَنْ أُلْقِيَهُ فِي الْقَبَضِ لَامَتْنِي نَفْسِي فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ أَعْطِنِيهِ قَالَ فَشَدَّ لِي صَوْتَهُ رُدَّهُ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُ قَالَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قَالَ وَمَرِضْتُ فَأَرْسَلْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَانِي فَقُلْتُ دَعْنِي أَقْسِمْ مَالِي حَيْثُ شِئْتُ قَالَ فَأَبَى قُلْتُ فَالنِّصْفَ قَالَ فَأَبَى قُلْتُ فَالثُّلُثَ قَالَ فَسَكَتَ فَكَانَ بَعْدُ الثُّلُثُ جَائِزًا قَالَ وَأَتَيْتُ عَلَى نَفَرٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرِينَ فَقَالُوا تَعَالَ نُطْعِمْكَ وَنَسْقِكَ خَمْرًا وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ تُحَرَّمَ الْخَمْرُ قَالَ فَأَتَيْتُهُمْ فِي حَشٍّ وَالْحَشُّ الْبُسْتَانُ فَإِذَا رَأْسُ جَزُورٍ مَشْوِيٌّ عِنْدَهُمْ وَزِقٌّ مِنْ خَمْرٍ قَالَ فَأَكَلْتُ وَشَرِبْتُ مَعَهُمْ قَالَ فَذَكَرْتُ الْأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرِينَ عِنْدَهُمْ فَقُلْتُ الْمُهَاجِرُونَ خَيْرٌ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ فَأَخَذَ رَجُلٌ أَحَدَ لَحْيَيِ الرَّأْسِ فَضَرَبَنِي بِهِ

نشته نو مۀ نے منه د هغوی خبره (یعنی شرك مۀ كوه) او اوسیږه د هغوی سره د دستور موافق. او یو خل رسول الله ﷺ ته ډیر د غنیمت مال په لاس راغې. چه په هغې كښې یوه تُوره هم وه. هغه تُوره ما راواخسته او د رسول الله ﷺ خواله راوړه. ما عرض اوكړو چه دا تُوره ما ته په انعام كښې راكړئ او خما حال خو خاص تاسو ته معلوم دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل دے لره په هغه ځائے كیږده د كوم ځائے نه چه د اوچته كړے ده. زۀ لاړم او ما اراده اوكړه چه دے لره په ګودام كښې اوغورځوم. لیكن خما زړۀ زۀ ملامته كړم او بیا د حضرت ﷺ خواته واپس شوم او عرض مے اوكړو چه دا تُوره ما ته راكړئ. حضرت ﷺ په سختئ سره اوفرمائیل كیږده دے لره په هغه ځائے د كومے نه چه د اوچته كړے ده. پس الله تعالی دا آیت نازل كړو: تپوس كوی ستا نه د لوټ په باره كښې. سعد ؓ وائی زۀ بیمار شوم نو ما په رسول الله ﷺ پسے قاصد اولیږۀ. حضرت ﷺ تشریف راوړو. ما اووے ماله اجازت راكړه چه زۀ خپل مال لره اوویشم څنګه چه مے خوښه وی. حضرت ﷺ او نۀ منل. ما اووے بنه ده نیم مال به اوویشم. حضرت ؐ او نۀ منل. ما اووے بنه ده دریمه حصه مال به اوویشم. حضرت ﷺ چپ پاتے شو. بیا دغه حكم اوشو چه د دریمے حصے مال پورے ویشل صحیح دی. سعد ؓ وائی یو خل زۀ د انصارو او مهاجرینو د څۀ خلقو خواله لاړم. هغوی اووے راځه مونږ په تا غله خور وو او شراب دربانده څښنو. ددغه وخته پورے شراب حرام شوی نۀ وو. زۀ په یو باغ كښې د هغوی خواله لاړم. هلته د اوښ د سر غوښه وریته شوے وه او د شرابو یو مشك ایخودے شوے وو. ما د هغوی سره غوښه اوخوړه او شراب مے اوڅكل هلته د مهاجرینو او انصارو

فَجَرَحَ بِأَنْفِي فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيَّ يَعْنِي نَفْسَهُ شَأْنَ الْخَمْرِ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ

ذکر اوشو. ما ء اووے مهاجرین د انصارو نه غوره دی یو سړی یوه تکره د سَر راواخسته او ماله ئې پرے ګذار راکړو. خما پوزه زخمی شوه ما رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو. پس الله تعالی دا آیت نال کړو چه شراب او جواری او بتان او د جوارئ غشی دا ټول ناکاره عملونه دی د عملونو د شیطان نه. (خان ترینه وساتئ)

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ أُنْزِلَتْ فِيَّ أَرْبَعُ آيَاتٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ زُهَيْرٍ عَنْ سِمَاكٍ وَزَادَ فِي حَدِيثِ شُعْبَةَ قَالَ فَكَانُوا إِذَا أَرَادُوا أَنْ يُطْعِمُوهَا شَجَرُوا فَاهَا بِعَصًا ثُمَّ أَوْجَرُوهَا وَفِي حَدِيثِهِ أَيْضًا فَضَرَبَ بِهِ أَنْفَ سَعْدٍ فَفَزَرَهُ وَكَانَ أَنْفُ سَعْدٍ مَفْزُورًا

سعد ؓ وئیلی دی خما د پلار په باره کښې څلور آیتونه نازل شوی دی بیائے بیان کړو حدیث لره د پورته پشان. شعبه دا زیاته کړه چه سعد اووے آخر خلقو چه به خما په مور غله خوروله او غوښتو نو د هغې خلهٔ به ئې په یو لرګی سره بیرته کړه او غله به ئې ورته په خلهٔ کښې واچوله په دے روایت دے دادی چه د سعد ؓ پوزه ئې پرے اوشلوله او پوزه ئې اوشلیدله او بیاد هغهٔ پوزه همیشه شلیدلے وه.

عَنْ سَعْدٍ فِيَّ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ قَالَ نَزَلَتْ فِي سِتَّةٍ أَنَا وَابْنُ مَسْعُودٍ مِنْهُمْ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ قَالُوا لَهُ تُدْنِي هَؤُلَاءِ

د سعد ؓ نه روایت دے چه دا آیت: مهٔ لرے کوه هغه خلقو لره چه هغه آواز کوی خپل پالونکی ته په سحر او ماښام کښې د شپږو سړو په باب کښې نازل شوے دے. چه په هغوی کښې یو زهٔ او عبد الله بن مسعود ؓ هم وو مشرکانو به وئیلو تاسو دغه خلقو لره خان ته نږدے ساتئ.

عَنْ سَعْدٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ نَفَرٍ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطْرُدْ هَؤُلَاءِ لَا يَجْتَرِئُونَ عَلَيْنَا قَالَ وَكُنْتُ أَنَا وَابْنُ مَسْعُودٍ وَرَجُلٌ مِنْ هُذَيْلٍ وَبِلَالٌ وَرَجُلَانِ لَسْتُ أُسَمِّيهِمَا فَوَقَعَ فِي نَفْسِ رَسُولِ اللهِ ﷺ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقَعَ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ

د سعد ؓ نه روایت دے وائی چه مونږ شپږ سړی د رسول الله ﷺ سره وو. مشرکانو اووے تاسو دے خلقو لره د خپلے خوانه اوشړئ چه دوی جرأت نهٔ کوی په مونږ باندے په هغه خلقو کښې زهٔ ووم او ابن مسعود وو او یو سړے د هذیل وو او بلال وو او دوه سړی نور وو چه د هغوی زهٔ نوم نهٔ شم اخستے. د حضرت ﷺ په زړهٔ مبارک کښې څهٔ چه د الله خوښه وه هغه راغله. حضرت ﷺ په زړهٔ زړهٔ کښې خبرے اوکړے. پس الله تعالی دا آیت نازل کړو مهٔ شړه هغه خلقو لره چه هغه آواز کوی خپل رب ته په سحر او ماښام کښې او د هغهٔ

رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ

خوشحالي غواړي.

عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ لَمْ يَبْقَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ تِلْكَ الْأَيَّامِ الَّتِي قَاتَلَ فِيهِنَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ طَلْحَةَ وَسَعْدٍ عَنْ حَدِيثِهِمَا

د ابو عثمان نه روایت دے وائي چه په هغه ورخو کښې په کومو ورخو کښې چه به رسول الله ﷺ جنګیدلو (د کافرانو سره) بعضے ورځ به هیڅوك دحضرت ﷺ سره پاتے نۀ شو سوا د طلحه او سعد نه.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ طَلْحَةَ وَالزُّبَيْرِ

باب: د حضرت طلحه او د حضرت زبیر فضیلت

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ نَدَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ فَانْتَدَبَ الزُّبَيْرُ ثُمَّ نَدَبَهُمْ فَانْتَدَبَ الزُّبَيْرُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيٌّ وَحَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ د خندق په ورځ خلقو ته د جهاد ترغیب ورکوؤ. زبیر جواب ورکړو چه حاضر او مستعد یم. بیا حضرت ﷺ بلنه ورکړه نو زبیر بیا دغه جواب ورکړو. بیا حضرت ﷺ بلنه ورکړه نو زبیر هم دغه جواب ورکړو. آخر حضرت ﷺ اوفرمائیل د هر پیغمبر یو خاص مصاحب وی او خما خاص مصاحب زبیر دے.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ بْنِ عُيَيْنَةَ

جابر د نبی ﷺ نه د ابن عیینه د حدیث پشان روایت کړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَعُمَرُ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ مَعَ النِّسْوَةِ فِي أُطُمِ حَسَّانَ فَكَانَ يُطَاطِئُ لِي مَرَّةً فَأَنْظُرُ وَأُطَاطِئُ لَهُ مَرَّةً فَيَنْظُرُ فَكُنْتُ أَعْرِفُ أَبِي إِذَا مَرَّ عَلَى فَرَسِهِ فِي السِّلَاحِ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ قَالَ وَأَخْبَرَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِأَبِي فَقَالَ وَرَأَيْتَنِي يَا بُنَيَّ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ أَمَا وَاللهِ لَقَدْ جَمَعَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن زبیر نه روایت دے وائي چه زۀ او عمرو بن ابی سلمه د خندق په ورځ د ښځو سره وو د حسان بن ثابت په قلعه کښې. نو کله چه به هغه ښکته شو خما د پاره نو ما به اولیدے او کله به زۀ ښکته شوم د هغۀ د پاره نو هغۀ به اولیدے. ما خپل پلار پیژندلے وو هر کله هغه په خپل اس باندے سره د وسلے تیر شو د بنی قریظه په طرف. بیا ما دا ذکر د خپل پلار سره اوکړو نو هغوی اووے خویه تا زۀ لیدلے وم ما اووے آو. هغوی اووے په الله قسم دے چه په دغه ورځ جمع کړی وو رسول الله ﷺ خما د پاره خپل پلار او مور لره فرمائیلی وو چه خما پلار مور د ستا نه قربان وی

يَوْمَئِذٍ أَبَوَيْهِ فَقَالَ فَدَاكَ أَبِي وَأُمِّي

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْخَنْدَقِ كُنْتُ أَنَا وَعُمَرُ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ فِي الْأُطُمِ الَّذِي فِيهِ النِّسْوَةُ يَعْنِي نِسْوَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ ابْنِ مُسْهِرٍ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُرْوَةَ فِي الْحَدِيثِ وَلٰكِنْ أَدْرَجَ الْقِصَّةَ فِي حَدِيثِ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ الزُّبَيْرِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلٰى حِرَاءٍ هُوَ وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ وَعَلِيٌّ وَعُثْمَانُ وَطَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ فَتَحَرَّكَتِ الصَّخْرَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِهْدَأْ فَمَا عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيقٌ أَوْ شَهِيدٌ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلٰى جَبَلِ حِرَاءٍ فَتَحَرَّكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اسْكُنْ حِرَاءُ فَمَا عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيقٌ أَوْ شَهِيدٌ وَعَلَيْهِ النَّبِيُّ وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ وَعَلِيٌّ وَطَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ

عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَتْ لِي عَائِشَةُ أَبَوَاكَ وَاللهِ مِنَ الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلّٰهِ وَالرَّسُولِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ

دعبد الله بن زبیر نه روایت دے چه هر کله د غزوهٔ خندق ورځ شوه نو زهٔ او عمر بن ابی سلمهؓ په هغه قلعه باندے مامور وو په کومه کښې چه ښځے (محفوظ) وے یعنی د رسول الله د کور بیبیانے مخکښې د ابن مسهر د حدیث پشان باقی حدیث ئے بیان کړو. مګر په دے کښې د عبد الله بن عروه ذکر ئے نهٔ دے کړے. البته هغه قصه ئے اولیکله کومه چه د هشام په حدیث کښې ده. چه هشام د خپل پلار نه او هغوی د عبد الله بن زبیرؓ نه روایت کړے دے.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ په حراء غر باندے ولاړ وو او د حضرتﷺ سره ابوبکرؓ او عمرؓ او علیؓ او عثمانؓ او طلحهؓ او زبیرؓ هم وو. چه د هغې ګټے اوخوزیدے. رسول اللهﷺ اوفرمائیل غلے شه اے حراء! ستا دپاسه هیڅوک نشته مګر نبی یا صدیق یا شهید (نبی خو پخپله حضرتﷺ وو او صدیق ابوبکرؓ، باقی ټول شهیدان دی په ظلم سره وژلی شوی دی تر دے پورے چه طلحهؓ او زبیرؓ هم)

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د حراء په غر وو چه هغه اوخوزیدهٔ نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل. اودریږه اے حراء. ځکه په تا د پاسه سوا د نبی یا صدیق یا شهید نه بل څوک نشته. او په دے باندے رسول اللهﷺ او ابوبکر او عمر او عثمان او علی او طلحه او زبیر او سعد بن ابی وقاص رضی الله تعالی عنهم وو.

هشام د خپل پلار عُروه بن زبیرؓ نه روایت کړے دے چه دوی ته حضرت عائشےؓ اووئیل په الله قسم دے چه ستاسو د دواړو پلاران (یعنی زبیرؓ او ابوبکر) په خلقو کښې وو د چا ذکر چه په دے ایت کښې شوے دے

الَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْ بَعْدِ مَا اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ (یعني کومو خلقو چه د الله تابعداري اوکړه او د هغهٔ د پیغمبرؐ د زخمي کیدو باوجود هم (ابوبکرؓ د عروه پلار نهٔ وو نیکهٔ ئې وو. نیکهٔ ته هم پلار وائي)

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ يَعْنِيْ أَبَابَكْرٍ وَالزُّبَيْرَ

د هشام نه په دے اسناد سره روایت دے او په دے کښې دا زیاته ده. یعني ابوبکرؓ او زبیرؓ

عَنْ عُرْوَةَ قَالَ قَالَتْ لِيْ عَائِشَةُ كَانَ أَبَوَاكَ مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْ بَعْدِ مَا اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ

د عُروه نه روایت دے چه عائشےؓ دوی ته اووئیل چه ستا دواړه پلاران د هغه خلقو نه دی چه هغوی باوجود د زخمي کیدو نه د خدائے او د پیغمبرؐ په حکمونو لبیك اووے.

بَاب فَضَائِلِ أَبِيْ عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ

باب : د ابوعبیده بن جرّاحؓ فضیلت

عَنْ أَنَسٍ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِيْنًا وَإِنَّ أَمِيْنَنَا أَيَّتُهَا الْأُمَّةُ أَبُوْ عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ

د انسؓ نه روایت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي چه د هر یو امت یو امین وي او د دے اُمت امین ابوعبیده بن الجراح دے (اگر چه نور صحابه کرامؓ هم امین وو خو ابوعبیده د نورو و ممتاز وو)

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَهْلَ الْيَمَنِ قَدِمُوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا ابْعَثْ مَعَنَا رَجُلًا يُعَلِّمْنَا السُّنَّةَ وَالْإِسْلَامَ قَالَ فَأَخَذَ بِيَدِ أَبِيْ عُبَيْدَةَ فَقَالَ هٰذَا أَمِيْنُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ

د انسؓ نه روایت دے چه د یمن څهٔ خلق د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه یا رسول اللهؐ! زمونږ سره یو داسے سړے اولیږه چه هغه مونږ ته اسلام او حدیث اوښائي. نو حضرت د ابوعبیدهؓ لاس اونیوؤ او اوئې فرمائیل. دا د دے امت امانت دار دے.

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ جَاءَ أَهْلُ نَجْرَانَ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ابْعَثْ إِلَيْنَا رَجُلًا أَمِيْنًا فَقَالَ لَأَبْعَثَنَّ إِلَيْكُمْ رَجُلًا أَمِيْنًا حَقَّ أَمِيْنٍ حَقَّ أَمِيْنٍ قَالَ فَاسْتَشْرَفَ لَهَا النَّاسُ قَالَ فَبَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ

د حذیفهؓ نه روایت دے وائي چه د نجران خلق د رسول اللهﷺ خواله راغلهٔ او اوئې وئیل یا رسول اللهﷺ ! مونږ ته یو امانت دار سړے رااولیږه. حضرتﷺ اوفرمائیل خامخا زهٔ تاسو ته یو امانت دار سړے درلیږم. هغه بیشکه امانتدار دے. راوي وائي خلق په انتظار کښې وو چه چا لره به لیږي؟ حضرتﷺ ابوعبیده بن الجراحؓ لره اولیږلو.

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

دابواسحاق نه په دے اسناد سره هم دغسے روایت دے

بَابُ فَضَائِلِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ

باب : د امام حسنؓ او امام حسینؓ فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لِحَسَنٍ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ وَأَحْبِبْ مَنْ يُحِبُّهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د امام حسنؓ په باره کښ اوفرمائیل چه یا الله خما ددهٔ سره محبت دے تهٔ ورسره هم محبت اوساته او څوك چه ددهٔ سره محبت ساتی د هغهٔ سره هم محبت اوساته[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَائِفَةٍ مِنَ النَّهَارِ لَا يُكَلِّمُنِي وَلَا أُكَلِّمُهُ حَتّٰى جَاءَ سُوقَ بَنِي قَيْنُقَاعَ ثُمَّ انْصَرَفَ حَتّٰى أَتٰى خِبَاءَ فَاطِمَةَ فَقَالَ أَثَمَّ لُكَعُ أَثَمَّ لُكَعُ يَعْنِي حَسَنًا فَظَنَنَّا أَنَّهُ إِنَّمَا تَحْبِسُهُ أُمُّهُ لِأَنْ تُغَسِّلَهُ وَتُلْبِسَهُ سِخَابًا فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ جَاءَ يَسْعٰى حَتّٰى اعْتَنَقَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ وَأَحْبِبْ مَنْ يُحِبُّهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه زهٔ د رسول اللهﷺ سره یوه ووخ رااووتم په یو وخت نه ما د هغهٔ سره خبرے کولے او نهٔ هغوی خما سره خبرے کولے (یعنی دواړه خاموش روان وو) ترد ے پورے چه د بنی قینقاع بازار ته اورسیدو. بیا حضرتﷺ واپس شو او د حضرت فاطمة زهراءؓ کورته راغے او تپوس ئے اوکړو بچے شتهٔ؟ بچے شتهٔ؟ یعنی امام حسن ته مونږ دا اوګنړله چه د هغوی مور هغوی لره قید کړے دے د وینځلو لمبولو او د خوشبوئی د هار د اغوستلو دپاره. لیکن لږ ساعت پس هغوی په منډه راغے او داوړو د یو بل سره غاړے میلاؤ کړے (یعنی رسول اللهﷺ او امام حسنؓ) بیا رسول اللهﷺ اوفرمائیل. یا الله خما ددهٔ سره محبت دے تهٔ ورسره هم محبت اوساته او محبت اوساته د هغه چا سره چه ددهٔ سره محبت ساتی.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ رَأَيْتُ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ عَلٰى عَاتِقِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ

د براء بن عازبؓ نه روایت دے وائی چه ما امام حسنؓ د رسول اللهﷺ په اوګه باندے اولیدو او حضرتﷺ فرمائیلو یا الله خما ددهٔ سره محبت دے تهٔ ورسره هم محبت اوساته

---

[1] یعنی د امام حسنؓ سره چه څوك محبت ساتی د هغوی سره تهٔ هم محبت اوساته. سُبحٰن الله! د اهل بیتو محبت دومره لوئے څیز دے چه د هغے په وجه بنده د الله جل جلاله محبوب جوړیږی یا الله! تهٔ مونږ لره قائم اوساته د اهل بیتو په محبت باندے او مرګ راکړه د هغوی په محبت کښ او پورته کړه مونږ د هغوی په محبت کښ. هیڅکله مومنانو لره د الله نه سوا د بل چا سره محبت (معناه اشد محب کما قال الله تعالٰی والَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اَشَدُّ حُبًّا لِلّٰهِ ۱۲عارف) کول نهٔ دی پکار خو د الله د رسول او د رسول د اهل بیتو او صحابه کرامو محبت په حقیقت کښ د الله محبت دے. نو دا الله سره بالذات دے او د نورو سره په واسطه دے.

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعًا الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ عَلَى عَاتِقِهِ وَهُوَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ

د براءؓ نه روایت دے چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدهٔ حسن بن علیؓ ئے په خپلو اوګو باندے کیښنولے وو او حضرت ﷺ فرمائیل یا الله زهٔ ددهٔ سره مینه کوم ته هم ددهٔ سره محبت اوکړے.

عَنْ إِيَاسٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَقَدْ قُدْتُ بِنَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ بَغْلَتَهُ الشَّهْبَاءَ حَتَّى أَدْخَلْتُهُمْ حُجْرَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا قُدَّامَهُ وَهَذَا خَلْفَهُ

د ایاسؒ نه روایت دے چه هغوی د خپل پلار (سلمه بن اکوعؓ) نه اوریدلی دی. هغوی وئیلی دی چه ما هغه سپین خچر لره رابنکودو په کوم چه رسول الله ﷺ او امام حسنؓ او امام حسینؓ سوارهٔ وو تر دے پورې چه هغوی مے د حجرهٔ نبوی ﷺ پورې او رسول یو نمسے د حضرت ﷺ نه مخکښ او بل ترے نه روستو سوارهٔ وو

عَنْ عَائِشَةَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةً وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مُرَحَّلٌ مِنْ شَعْرٍ أَسْوَدَ فَجَاءَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ فَأَدْخَلَهُ ثُمَّ جَاءَ الْحُسَيْنُ فَدَخَلَ مَعَهُ ثُمَّ جَاءَتْ فَاطِمَةُ فَأَدْخَلَهَا ثُمَّ جَاءَ عَلِيٌّ فَأَدْخَلَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقےؓ نه روایت دے چه رسول اللهؐ سحر رااووتو. او یو څادر ئے په سر وو چه په هغے باندے د کجاوو یو د کتوؤ شکلونه د تورو وریخو پشان جوړ شوی وو. په دے کښ امام حسنؓ راغے. حضرت ﷺ هغوی په هغه څادر کښ پټ کړو. بیا امام حسینؓ راغے هغه ئے هم پکښ دننه کړو. بیا فاطمه زهراؓ راغله هغه ئے هم پکښ دننه کړه. بیا حضرت علیؓ راغے هغه ئے هم پکښ دننه کړو. ددے نه پس ئے اوفرمائیل: إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا یعنی بیشکه الله تعالی غواړی چه لرے کړی ستاسو نه ناپاکی لره او پاک کړی تاسو لره اے کور والؤ.[1]

بَابُ فَضَائِلِ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ وَأُسَامَةَ

باب: د زید بن حارثهؓ او د اُسامه بن زیدؓ

[1] دا ایت تطهیر دے ددے نه په اول ام اخر کښ د پاکو بیبیانو بیان دے. او د هغوی په طرف خطاب دے. ددے ایت نه پس دادی چه وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ د عطف سره چه صریح دے د بیبیانو سره په خطاب کولو کښ په دے صورت کښې دلته د اهل بیتو نه خاص بیبیانے مراد وے. خو حضرت ﷺ هغه خلقو لره هم شریك کړو ددے دپاره چه هغه په پاکئ کښ هم شامل شی او دا قول چه ایت تطهیر د خلقو سره خاص دے او پاکو بیبیانو ته په دے کښ دخل نشته دے. د سیاق او سباق قرانی نه لرے معلومیږی. او په دے کښ د زیاتو خبرو کولو ضرورت نشته دے ولے چه دا امر په هر حال ثابت دے چه امام حسن او امام حسین او علی او فاطمه زهراء رضی الله تعالی عنهم په ایت تطهیر کښ داخل دی

بن زيدٍؓ

فضیلت

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ مَا كُنَّا نَدْعُو زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَتَّى نَزَلَ فِي الْقُرْآنِ ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللهِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے وائی چه مونږ به زيد بن حارثه ته زيد بن محمد وئيلو (دا دے وجے نه چه حضرت هوغی زه په خوئ نيولے وو) تر دے پورے چه په قران کښ نازل شو چه آواز کوئ هغوی ته د هغوی د پلارانو په نسبت دا د الله په نز د غوره دی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بِمِثْلِهِ

د عبد الله بن عمرؓ نه دغسے روايت دے

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْثًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَطَعَنَ النَّاسُ فِي إِمْرَتِهِ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنْ تَطْعَنُوا فِي إِمْرَتِهِ فَقَدْ كُنْتُمْ تَطْعَنُونَ فِي إِمْرَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلُ وَايْمُ اللهِ إِنْ كَانَ لَخَلِيقًا لِلْإِمْرَةِ وَإِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ وَإِنَّ هَذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهُ

د عبدالله بن عمرؓ نه روايت دے وائی چه رسول الله يو لښكر اوليږو او زيد بن أسامه ئے د هغے سردار كړو. خلقو د هغوی په سردارئ باندے طعن اووے (چه يو نوجوان په لويو مهاجرينو او انصارو باندے حضرتﷺ افسر مقرر كړو) بيا رسول اللهﷺ اودريدو او اونے فرمائيل! كچرے تاسو طعنه كوئ د أسامه په سردارئ باندے نو تاسو ملامت وئيلے وو دده د پلار په سردارئ باندے ددے نه مخكښ. او په الله قسم دے چه دده پلار د سردارئ لائق وو او په تولو خلقو هغه ماته زيات خوږ او اوس د هغوی نه پس أسامه ما ته په تولو خلقو كښ زيات خوږ دے[1]

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ إِنْ تَطْعَنُوا فِي إِمَارَتِهِ يُرِيدُ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَقَدْ طَعَنْتُمْ فِي إِمَارَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلِهِ وَايْمُ اللهِ إِنْ كَانَ

سالمؒ د خپل پلار عبد اللهؓ نه روايت كړے دے چه رسول اللهﷺ په منبر اوفرمائيل كچرے تاسو خلق د أسامه بن زيد په مشرئ طعن كوئ، نو تاسو خلقو ددے نه مخكښ دده د پلار په سردارئ هم طعن كړے وو او په خدائے مے د قسم وی چه هغه ددے سردارئ

---

[1] رومبے حضرت زيدؓ لره د لښكر سردار كړے ليږلے وو. هغه په شام كښ شهيد شو خكه بيرے حضرتﷺ په دويم وار لښكر كښی اوكړو او سردارئ ئے د هغهٔ خوئ أسامه له وركړه ددے دپاره چه په هغوی باندے د پلار غم كم شی. دويمه دا چه هغه به په نسبت د نورو خلقو په جنګ كښ زيات كوشش كوی. ددے حديث نه معلومه شوه چه په سردارئ او حكومت كښ لوئے امر لياقت دے كچرے لياقت نه وی نو قدامت او مشروالے بيكاره دے

لَخَلِيقًا لَهَا وَايْمُ اللهِ إِنْ كَانَ لَأَحَبَّ النَّاسِ إِلَيَّ وَايْمُ اللهِ إِنَّ هٰذَا لَهَا لَخَلِيقٌ يُرِيدُ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَايْمُ اللهِ إِنْ كَانَ لَأَحَبَّهُمْ إِلَيَّ مِنْ بَعْدِهِ فَأُوصِيكُمْ بِهِ فَإِنَّهُ مِنْ صَالِحِيكُمْ

لائق وو. او خدائے قسم چه هغه ماته ډير زيات خوږ وو. او په خدائے قسم أسامه دده سردارئ لائق دے او په خدائے قسم دا يعنى أسامه بن زيد ماته ډير خوږ دے نو زۀ وصيت كوم تاسو ته د أسامه سره د ښۀ سلوك كولو. هغه په تاسو كښې د نيك بخته خلقو نه دے.

بَابُ فَضَائِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

باب: د عبد الله بن جعفرؓ بن ابى طالب فضيلت

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ لِابْنِ الزُّبَيْرِ أَتَذْكُرُ إِذْ تَلَقَّيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَأَنْتَ وَابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ نَعَمْ فَحَمَلَنَا وَتَرَكَكَ

د عبد الله بن ابى مليكه نه روايت دے وائى چه عبد الله بن جعفرؓ عبدا لله بن زبيرؓ ته اووے تاته ياد دى هر كله چه زۀ او تۀ او ابن عباسؓ د رسول الله ﷺ سره ميلاؤ شو نو حضرت ﷺ مونږ سوارۀ كړو او تۀ ئے پريخودے (ځكه چه په سورلئ باندے زيات ځائے نۀ وو)

عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَإِسْنَادِهِ

د حبيب بن شهيد نه د ابن عليه د حديث او اسناد پشان روايت دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ تُلُقِّيَ بِصِبْيَانِ أَهْلِ بَيْتِهِ قَالَ وَإِنَّهُ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَسُبِقَ بِي إِلَيْهِ فَحَمَلَنِي بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ جِيءَ بِأَحَدِ ابْنَيْ فَاطِمَةَ فَأَرْدَفَهُ خَلْفَهُ قَالَ فَأُدْخِلْنَا الْمَدِينَةَ ثَلَاثَةً عَلَى دَابَّةٍ وَاحِدَةٍ

د عبد الله بن جعفرؓ نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ چه به هر كله د سفر نه تشريف راوړو نو د كور ماشومان به په حضرت ﷺ پسے تلل او ميلاويدلو به يو ځل حضرت ﷺ د سفر نه راغے او زۀ مخكښې لاړم د حضرت ﷺ سره د ميلاويدو دپاره. حضرت ﷺ زۀ خپلے مخے ته كينېنولم. بيا د حضرت فاطمےؓ يو ځوئ راغے حضرت ﷺ هغۀ له د ځان نه روستو سور كړو بيا مونږ درے واړه په يوه سورلئ باندے سوارۀ مدينے ته راغلو

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ تُلُقِّيَ بِنَا قَالَ فَتُلُقِّيَ بِي وَبِالْحَسَنِ أَوْ بِالْحُسَيْنِ قَالَ فَحَمَلَ أَحَدَنَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَالْآخَرَ خَلْفَهُ

د عبد الله بن جعفرؓ نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ چه به هر كله د سفر نه تشريف راوړو نو زمونږ خلقو سره به ميلاويدو. يو ځل خما سره او د حسنؓ يا حسينؓ سره ميلاؤ شو نو حضرت ﷺ په مونږ كښې يو خپلے مخے ته او بل د ځان نه روستو كينېنوو تر دے پورے چه

حَتَّى دَخَلْنَا الْمَدِينَةَ

مدینې ته راغلو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ خَلْفَهُ فَأَسَرَّ إِلَيَّ حَدِيثًا لَا أُحَدِّثُ بِهِ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ

د عبد الله بن جعفر ؓ نه روایت دے وائی چه یوه ورځ زه رسول الله ﷺ په سورلۍ د خان نه روستو کینښنولم او په پټه ئې راته یوه خبره اوکړه چه هغه زه هیچا ته نه وایم.

بَابُ فَضَائِلِ خَدِيجَةَ

باب : د حضرت خدیجه ؓ فضیلت

عَنْ عَلِيٍّ بِالْكُوفَةِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ خَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَخَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ قَالَ أَبُو كُرَيْبٍ وَأَشَارَ وَكِيعٌ إِلَى السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

د حضرت علی ؓ نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئې وو چه د زمکې دننه خومره ښځې دی په هغې تولو کښې مریم لور د عمران غوره ده. او د آسمان او زمکې دننه چه خومره ښځې دی په هغې کښې خدیجه ؓ لور د خویلد غوره ده[1].

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَلَ مِنَ الرِّجَالِ كَثِيرٌ وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ غَيْرُ مَرْيَمَ بِنْتِ عِمْرَانَ وَآسِيَةَ امْرَأَةِ فِرْعَوْنَ وَإِنَّ فَضْلَ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ

د ابو موسیٰ ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل په سړو کښې ډیر کامل شوی دی. لیکن په ښځو کښې یوه هم کامله شوے نه ده. سوا د مریم لور د عمران نه او آسیه د ښځې د فرعون نه او د عائشې فضیلت په نورو ښځو باندې داسې دے لکه د ماتې کړے شوے روټۍ غوره والے په نورو غلو باندې. (نووی ؒ وائی د دے حدیث نه دا نه ده وتلې چه حضرت عائشې ؓ د حضرت مریم ؑ او آسیې ؓ نه غوره ده. ځکه چه احتمال دے چه مراد د فضیلت نه د هغه اُمت په ښځو باندې وی[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَى جِبْرِيلُ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هٰذِهِ خَدِيجَةُ قَدْ أَتَتْكَ مَعَهَا إِنَاءٌ فِيهِ إِدَامٌ أَوْ طَعَامٌ أَوْ شَرَابٌ فَإِذَا هِيَ أَتَتْكَ فَاقْرَأْ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے وائی چه جبرائیل ؑ د رسول الله ﷺ خواله راغے . او عرض ئې اوکړو چه یا رسول الله ﷺ دا خدیجه ده ستاسو خواله راځی. یو لوښے ورسره دے چه په هغې کښې سالن دے یا غله

---

[1] یعنی هره یوه په خپله زمانه کښې د ټولو ښځو نه غوره ده. اوس پاتې شو دا امر چه په دے دواړو کښې غوره کومه یوه ده نو دائې بیان او نه فرمائیلو

[2] دد ے حدیث نه ځنو دلیل نیولے دے چه دا دواړه ښځې پیغمبرانې وې. لیکن صحیح دا ده چه نبیانې نه وې بلکه ولیانې وې او منقوله ده اجماع په دے خبره باندې چه ښځې نبیانې کیدے نه شی.

عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنْ رَبِّهَا عَزَّ وَجَلَّ وَمِنِّي وَبَشِّرْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ فِي رِوَايَتِهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَلَمْ يَقُلْ سَمِعْتُ وَلَمْ يَقُلْ فِي الْحَدِيثِ

ده یا شربت دے هر كله چه راشي نو تاسو ورته سلام اووايئ د پروردګار د طرفنه او ځما د طرفنه او هغې له زيرے وركړه په جنت كښ د يو كور چه د خولدارو ملغلرو نه جوړ دے. نه په هغې كښ څۀ شور شته او نه پكښ تكليف شته.

عَنْ إِسْمَعِيلَ قَالَ قُلْتُ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَشَّرَ خَدِيجَةَ بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ قَالَ نَعَمْ بَشَّرَهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ

د اسماعيل رحمه الله نه روايت دے وائي چه ما د عبد الله بن اوفى رضي الله عنه نه تپوس اوكړو چه آيا رسول الله ﷺ حضرت خديجې رضي الله عنها ته په جنت كښ د يو كور زيرے وركړے دے. هغوى اووے آو. حضرت ﷺ زيرے وركړے دے هغوى له په جنت كښ د يو كور چه د خولدارو ملغلرو جوړ دے نه په هغې كښ شور شته دے نه چغې او نه پكښ تكليف شته

عَنْ ابْنِ أَبِي أَوْفَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

ابن ابى اوفى د نبى ﷺ نه د پورتنى حديث پشان روايت كړے دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ بَشَّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَدِيجَةَ بِنْتَ خُوَيْلِدٍ بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ

د مومنانو د مور حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ خوشخبرى وركړے ده حضرت خديجې رضي الله عنها ته د يو كور په جنت كښ.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا غِرْتُ عَلَى امْرَأَةٍ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ وَلَقَدْ هَلَكَتْ قَبْلَ أَنْ يَتَزَوَّجَنِي بِثَلَاثِ سِنِينَ لِمَا كُنْتُ أَسْمَعُهُ يَذْكُرُهَا وَلَقَدْ أَمَرَهُ رَبُّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يُبَشِّرَهَا بِبَيْتٍ مِنْ قَصَبٍ فِي الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ لَيَذْبَحُ الشَّاةَ ثُمَّ يُهْدِيهَا إِلَى خَلَائِلِهَا

د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دے وائي چه ما په يوه ښځه باندے دومره غيرت نه دے كړے لكه څومره چه مے په خديجه رضي الله عنها باندے كړے دے. هغه ځما د نكاح كيدو نه درے كاله مخكښ وفات شوے وه. او دا غيرت به ما د دے وجے نه كوو چه ما به اوريدل چه نبى كريم ﷺ به د هغې ذكر كولو (او د هغې تعريف به ئے كوو) او پروردګار حضرت ﷺ ته حكم كړے وو چه خديجې رضي الله عنها له زيرے وركړه په جنت كښ د يو كور چه د خولدارو ملغلرو جوړ شوے دے. او حضرت ﷺ چه به بزه ذبح كوله نو د خديجې رضي الله عنها ملګرو ښځو له به ئے د هغې نه غوښه ليږله

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا غِرْتُ عَلَى نِسَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا عَلَى خَدِيجَةَ وَإِنِّي لَمْ

د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دے وائي چه ما د رسول الله ﷺ په بيبيانو باندے غيرت نه دے كړے البته په خديجه رضي الله عنها باندے مے

أَدركَهَا قَالَتْ وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَبَحَ الشَّاةَ فَيَقُوْلُ أَرسِلُوا بِهَا إِلَى اَصْدِقَاءِ خَدِيجَةَ قَالَتْ فَأَغْضَبْتُهُ يَوْمًا فَقُلْتُ خَدِيجَةَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي قَدْ رُزِقْتُ حُبَّهَا

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ إِلَى قِصَّةِ الشَّاةِ وَلَمْ يَذْكُرِ الزِّيَادَةَ بَعْدَهَا

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا غِرْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ مِنْ نِسَائِهِ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ لِكَثْرَةِ ذِكْرِهِ إِيَّاهَا وَمَا رَأَيْتُهَا قَطُّ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمْ يَتَزَوَّجِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خَدِيجَةَ حَتَّى مَاتَتْ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اسْتَأْذَنَتْ هَالَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ أُخْتُ خَدِيجَةَ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَرَفَ اسْتِئْذَانَ خَدِيجَةَ فَارْتَاحَ لِذٰلِكَ فَقَالَ اللّٰهُمَّ هَالَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ فَغِرْتُ فَقُلْتُ وَمَا تَذْكُرُ مِنْ عَجُوزٍ مِنْ عَجَائِزِ قُرَيْشٍ حَمْرَاءِ الشِّدْقَيْنِ هَلَكَتْ فِي الدَّهْرِ فَأَبْدَلَكَ اللهُ خَيْرًا مِنْهَا

کړے دے. او ما هغې لره نه ده موندلے. رسول الله ﷺ چه به هر کله بزه ذبح کړه نو فرمائیل به ئے دا دے غوښه د خدیجے ؓ د خپلوانو کور ته والیږئ یو ورځ ما حضرت ﷺ لره غصه کړو او اومے وئیل خدیجه حضرت او فرمائیل په ما کښې د هغې محبت الله تعالى غورځولے دے.

د هشام نه په دے اسناد سره د ابوأسامه حدیث روایت کړو د بزے د قصے پورے او دا دے نه روستنے مضمون ئے ذکر نه کړو.

د حضرت عائشے صدیقے ؓ نه روایت دے وائی چه ما دومره غیرت د حضرت ﷺ په یوے بی بی نه دے کړے لکه څومره چه مے په خدیجے ؓ باندے کړے دے. څکه چه حضرت ﷺ به د هغوی ذکر ډیر کوؤ او ما خو خدیجه ؓ چرته هم لیدلی نه وه.

د حضرت عائشے ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په خدیجه ؓ باندے بله نکاح نه ده کړے تر دے پورے چه هغه وفات شوه.

د حضرت عائشے صدیقے ؓ نه روایت دے چه هاله لور د خویلد د خدیجے ؓ خور (د حضرت ﷺ ښینه) اجازت اوغوښتو د رسول الله ﷺ خواله د راتلو. حضرت ﷺ ته د حضرت خدیجے ؓ اجازت غوښتل رایاد شولو. حضرت ﷺ خوشحاله شولو او اوئے فرمائیل هاله لور د خویلد. ماله غیرت راغے او ما اووے تاسو ولے یادوئ د قریشو د بوډئ ګانو نه د یوے بوډئ لره سرو ورُو والا (یعنی ډیره بوډئ چه غاښ ئے هم نوی خالص سرے ورُئ وی) نرو پندو والا هغه مړه شوه او الله تعالى تاته د هغې نه غوره ښځه درکړه (خوانه نا وادهٔ شوے لکه چه زهٔ یم (قاضی وائی ښځو ته داسے رشك معاف دے ولے چه دا دهغوی طبعی دے. او په دے وجه حضرت ﷺ حضرت عائشے ؓ

لره د داسې وئيلو نه منع نه کړه. او خما په نز د نه منع کولو وجه داوه چه عائشه کم عمره وه او کيدے شي بالغه شوے هم نه وه. دد ے وجے نه حضرت ﷺ په هغوی خفه نه شو

بَابٌ فِي فَضْلِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا

باب: د أم المؤمنين د حضرت عائشے فضيلت

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيتُكِ فِي الْمَنَامِ ثَلَاثَ لَيَالٍ جَاءَنِي بِكِ الْمَلَكُ فِي سَرَقَةٍ مِنْ حَرِيرٍ فَيَقُولُ هٰذِهِ امْرَأَتُكَ فَأَكْشِفُ عَنْ وَجْهِكِ فَإِذَا أَنْتِ هِيَ فَأَقُولُ إِنْ يَكُ هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللهِ يُمْضِهِ

د حضرت عائشے نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ما ته په خوب کښې د درے شپو پورے اوليدے (د نبوت نه مخکښې يا د نبوت نه روستو) چه يوے فرښتے ته د سپينو ريښمو په ټکړه کښې راوړے او ما ته ئے اووئيل دا ستاسو بي بي ده. ما چه ستا مخ کهولاو کړو نو هغه ته وے. ما وے که چرے دا خوب د الله تعالى د طرفه وي نو داسے به کيږي (يعني دا ښځه به ما ته ميلاويږي که چرے بل څه تعبير دد ے خوب نه شو

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د هشام نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى قَالَتْ فَقُلْتُ وَمِنْ أَيْنَ تَعْرِفُ ذٰلِكَ قَالَ أَمَّا إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً فَإِنَّكِ تَقُولِينَ لَا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ وَإِذَا كُنْتِ غَضْبَى قُلْتِ لَا وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ قَالَتْ قُلْتُ أَجَلْ وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ

د حضرت عائشے نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائيل خامخا زۀ پوهيږم په هغے چه ته خما نه رضا ئے او چه ته خما نه خفه ئے. ما عرض اوکړو ته څنګه پوهيږے. حضرت ﷺ اوفرمائيل هر کله چه ته خوشحاله ئے نو وائے نه قسم دے د محمد په رب باندے. او هر کله چه خفه ئے نو وائے چه نه قسم دے د ابراهيم په رب باندے. ما عرض اوکړو بيشکه قسم دے په خدائے باندے يا رسول الله زۀ ستا نوم پريږدم (هر کله چه خفه يمه) (دا غصه د حضرت عائشے د هغه غيرت په باب کښې ده کوم چه ښځو ته معاف ده. او هغه په ظاهر باندے وي. په زړۀ کښې حضرت عائشے د الله تعالى د رسول نه چرته هم نه خفه کيدله)

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهٰذَا الإِسْنَادِ إِلَى قَوْلِهِ لَا وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ

د هشام نه په دے اسناد سره د لا وَرَبِّ ابراهيم قول پورے روايت دے. ددے نه روستو ذکر کړے شوے نه دے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَلْعَبُ بِالْبَنَاتِ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَتْ وَكَانَتْ تَأْتِينِي صَوَاحِبِي فَكُنَّ يَنْقَمِعْنَ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَتْ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُسَرِّبُهُنَّ إِلَيَّ

د حضرت عائشے نه روايت دے چه هغے به د رسول الله ﷺ په خواه کښې په ګوډيانو لوبے کولے. هغوی وائي خما همزولے به راتلے. او د رسول الله ﷺ په ليدو به غائب کيدے (د شرم نه او د يرے نه) حضرت ﷺ به هغوی خما خواله راليږلے[1].

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ فِي حَدِيثِ جَرِيرٍ كُنْتُ أَلْعَبُ بِالْبَنَاتِ فِي بَيْتِهِ وَهُنَّ اللُّعَبُ

د هشام نه په دے اسناد سره روايت دے. د جرير (راوی) په حديث کښې دی چه ما به د جينکو سره د حضرت ﷺ په کور کښې لوبے کولے. او هغوی به هم لوبے کولے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا يَتَحَرَّوْنَ بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ يَبْتَغُونَ بِذٰلِكَ مَرْضَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عائشے نه روايت دے چه خلقو به خماد نمبر انتظار کولو په کومه ورځ چه به خمانمبر وو نو تحفے به ئے راليږلے ددے دپاره چه حضرت ﷺ خوشحاله وی.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ أَرْسَلَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ بِنْتَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَأْذَنَتْ عَلَيْهِ وَهُوَ مُضْطَجِعٌ مَعِي فِي مِرْطِي فَأَذِنَ لَهَا فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَزْوَاجَكَ أَرْسَلْنَنِي إِلَيْكَ يَسْأَلْنَكَ الْعَدْلَ فِي ابْنَةِ أَبِي قُحَافَةَ وَأَنَا سَاكِتَةٌ قَالَتْ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عائشے نه روايت دے وائي چه د رسول الله ﷺ بيبيانو فاطمة زهراء د حضرت ﷺ لور د حضرت ﷺ په خدمت کښې اوليږله هغوی اجازت اوغوښتو او حضرت ﷺ خما په څادر کښې خما سره ملاست وو. حضرت ﷺ اجازت ورکړو. نو هغوی عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ! ستاسو بيبيانو زۀ تاسو ته راليږلے يم هغوی غواړی چه تاسو انصاف اوکړئ د هغوی سره د ابوقحافه د لور په باره کښې. (يعنی څومره محبت چه ستاسو د دوی سره دے دومره د هغوی سره هم ساتئ دا امر اختياری نۀ وو او په

---

[1] قاضیؒ وائی ددے حديث نه دا معلومه شوه چه د ګوډيانو سره لوبے کول صحيح دی. او دا د تصويرونو نه مستثنیٰ دی څکه چه په دے کښې جينکو ته د خانداری أمورو تعليم دے. او علماؤ د ګوډيانو خرڅول او اخستل جائز کړی دی. او د امام مالك نه ددے کراهت منقول دے او د جمهور علماؤ قول دغه دے چه په دے سره لوبے کول صحيح دی. او د يوے طائفے دا قول دے چه دا حکم منسوخ دے د تصويرونو په حديث سره. (نووی)

وَسَلَّمَ أَيْ بُنَيَّةُ أَلَسْتِ تُحِبِّينَ مَا أُحِبُّ فَقَالَتْ بَلَى قَالَ فَأَحِبِّي هٰذِهِ قَالَتْ فَقَامَتْ فَاطِمَةُ حِينَ سَمِعَتْ ذٰلِكَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَجَعَتْ إِلَى أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَتْهُنَّ بِالَّذِي قَالَتْ وَبِالَّذِي قَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَ لَهَا مَا نُرَاكِ أَغْنَيْتِ عَنَّا مِنْ شَيْءٍ فَارْجِعِي إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُولِي لَهُ إِنَّ أَزْوَاجَكَ يَنْشُدْنَكَ الْعَدْلَ فِي ابْنَةِ أَبِي قُحَافَةَ فَقَالَتْ فَاطِمَةُ وَاللهِ لَا أُكَلِّمُهُ فِيهَا أَبَدًا قَالَتْ عَائِشَةُ فَأَرْسَلَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ الَّتِي كَانَتْ تُسَامِينِي مِنْهُنَّ فِي الْمَنْزِلَةِ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ أَرَ امْرَأَةً قَطُّ خَيْرًا فِي الدِّينِ مِنْ زَيْنَبَ وَأَتْقَى لِلّٰهِ وَأَصْدَقَ حَدِيثًا وَأَوْصَلَ لِلرَّحِمِ وَأَعْظَمَ صَدَقَةً وَأَشَدَّ ابْتِذَالًا لِنَفْسِهَا فِي الْعَمَلِ الَّذِي تَصَدَّقُ بِهِ وَتَقَرَّبُ بِهِ إِلَى اللهِ تَعَالَى مَا عَدَا سَوْرَةً مِنْ حِدَّةٍ كَانَتْ فِيهَا تُسْرِعُ مِنْهَا الْفَيْئَةَ قَالَتْ فَاسْتَأْذَنَتْ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ عَائِشَةَ فِي مِرْطِهَا عَلَى الْحَالَةِ الَّتِي دَخَلَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا وَهُوَ بِهَا فَأَذِنَ لَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ

نورو تولو خبرو کښې خو حضرت ﷺ انصاف کولی او زهٔ خاموشه وم. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل اے لورے! ولے تهٔ هغه نهٔ غواړے څهٔ چه زهٔ غواړمه. هغوی اووے یا رسول الله ﷺ زهٔ خو هغه غواړم څهٔ چه تاسو غواړئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو محبت ساته د عائشے رضی الله عنها سره. ددے خبرے په اوریدو فاطمه رضی الله عنها پاڅیده او د بیبیانو خواله لاړه. او هغوی ته ئے خپله وینا او د رسول الله ﷺ فرمان بیان کړو. هغوی اووے مونږ پوهه شو چه تهٔ څهٔ زمونږ په کار رانغلے. څکه بیا لاړه شه او رسول الله ﷺ ته اووایه چه ستاسو بیبیانے انصاف غواړی د ابوقحافه د لور په مقدمه کښې (ابوقحافه د ابوبکر د پلار نوم وو نو د حضرت عائشے رضی الله عنها نیکهٔ شو د نیکهٔ په طرف نسبت ورکولے شی) حضرت فاطمے رضی الله عنها اووے په الله قسم دے چه زهٔ د حضرت عائشے رضی الله عنها په مقدمه کښې اوس چرته هم د رسول الله ﷺ سره خبرے نهٔ کوم. حضرت عائشه رضی الله عنها وائی آخر د حضرت ﷺ بیبیانو د مومنانو مور زینب بنت جحش رضی الله عنها لره په حضرت ﷺ پسے اولیږله. او څما برابر په مرتبه کښې د حضرت ﷺ په نزهغه هم وه. او ما چرته یوه ښځه هم د هغے نه زیاته دینداره د الله نه یریدونکے او رښتیا ویونکے او خپلولی ساتونکے او خیرات کولو والائهٔ ده لیدلے. او نهٔ مے د هغے نه زیاته چرته یوه ښځه په خپل نفس باندے زور راوستونکے د الله تعالی په کار کښې او صدقه کښې لیدلے ده. صرف په هغے کښې یوه تیزی وه (یعنی غصه وه) چه د هغے نه به هم هغه زر واپس شوه (یعنی په خپله غصه به پښیمانه شوه) هغوی اجازت اوغوښتو د رسول الله ﷺ نه حضرت ﷺ اجازت ورکړو هم په هغه حال کښې په کوم

فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَزْوَاجَكَ أَرْسَلْنَنِي إِلَيْكَ يَسْأَلْنَكَ الْعَدْلَ فِي ابْنَةِ أَبِي قُحَافَةَ قَالَتْ ثُمَّ وَقَعَتْ بِي فَاسْتَطَالَتْ عَلَيَّ وَأَنَا أَرْقُبُ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَأَرْقُبُ طَرْفَهُ هَلْ يَأْذَنُ لِي فِيهَا قَالَتْ فَلَمْ تَبْرَحْ زَيْنَبُ حَتَّى عَرَفْتُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ لَا يَكْرَهُ أَنْ أَنْتَصِرَ قَالَتْ فَلَمَّا وَقَعْتُ بِهَا لَمْ أَنْشَبْهَا حَتَّى أَنْحَيْتُ عَلَيْهَا قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَتَبَسَّمَ إِنَّهَا ابْنَةُ أَبِي بَكْرٍ

کښې چه فاطمه رض راغلې وه او حضرت ﷺ خماسره په څادر کښې وو هغوی اووے یا رسول الله ستاسو بیبیانې انصاف غواړی د ابوقحافه د لور په مقدمه کښې. بیا ددے خبرے سره په ما باندے راوګرزیده او ژبه ئې راسره ووهله او ما د رسول الله ﷺ سترګو ته کتل چه حضرت ﷺ ما ته د جواب ورکولو اجازت راکوی یا نه راکوی. تردے پورے چه ما ته معلومه شوه چه حضرت ﷺ په جواب ورکولو سره بد نه ګنړی. نو زۀ هم په هغې باندے راغلم او په لږ ساعت کښې مے د هغې (خلهٔ) بنده کړه. رسول الله ﷺ مُسکے شو او اوئې فرمائیل دا د ابوبکر رض لور ده.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ فِي الْمَعْنَى غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَلَمَّا وَقَعْتُ بِهَا لَمْ أَنْشَبْهَا أَنْ أَثْخَنْتُهَا غَلَبَةً

د زهری نه په دے اسناد سره دغسې روایت دے مګر په دے کښې دادی چه حضرت عائشې رض اووئیل. چه هر کله ما په جواب کښې حمله اوکړه نو په لږ ساعت کښې په هغې مے غلبه حاصله کړه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَتَفَقَّدُ يَقُولُ أَيْنَ أَنَا الْيَوْمَ أَيْنَ أَنَا غَدًا اسْتِبْطَاءً لِيَوْمِ عَائِشَةَ قَالَتْ فَلَمَّا كَانَ يَوْمِي قَبَضَهُ اللهُ بَيْنَ سَحْرِي وَنَحْرِي

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رض نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به تپوس کولو او فرمائیل به ئې (په بیمارئ کښې) چه صبا به زۀ چرته یم صبا به زۀ چرته یم په دے خیال چه اوس خما په نمبر کښې ساعت شته دے. بیا خما د نمبر په ورځ الله حضرت ﷺ خان ته اوغوښتو خما په سینه او حلق کښې (یعنی د حضرت ﷺ سر مبارک خما د سینې سره لګیدلے وو)

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ وَهُوَ مُسْنِدٌ إِلَى صَدْرِهَا وَأَصْغَتْ إِلَيْهِ وَهُوَ يَقُولُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلو د وفات نه مخکښې. او ددهٔ ئې لګولے وهٔ خما سینې ته ما چه ورته غوږ نږدے کړو نو فرمائیل ئې یا الله اوبخښې ما لره او رحم اوکړه په ما باندے او میلاو کړه ما د خپلو ملګرو سره.

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د هشام نه په دے اسناد سره دغسې روایت دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَسْمَعُ أَنَّهُ لَنْ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رض نه روایت دے وائی چه ما به اوریدلو

يَمُوتُ نَبِيٌّ حَتَّى يُخَيَّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ قَالَتْ فَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ وَأَخَذَتْهُ بُحَّةٌ يَقُولُ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا قَالَتْ فَظَنَنْتُهُ خُيِّرَ حِينَئِذٍ

چه یو نبی نهٔ وفات کیږی تر دے پورے چه هغه ته اختیار ورکړے شی په دنیا کښې د اوسیدو یا آخرت ته د تلو. بیا ما واوریدل د رسول الله ﷺ نه په هغه بیمارئ کښې چه په هغې کښې حضرت ﷺ وفات اوموندو. هغه وخت آواز د حضرت ﷺ درون وو. حضرت اوفرمائیل د هغه خلقو سره مے کړه په چا چه تا احسان کړے دے د پیغمبرانو نه او رښتونو نه او د شهیدانو نه، او د نیک بخت خلقو نه او دا خلق ښهٔ ملګری دی په دغه وخت پوهه شومه چه دوی ته اختیار ملاو شو.

عَنْ سَعْدٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د سعد په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ صَحِيحٌ إِنَّهُ لَمْ يُقْبَضْ نَبِيٌّ قَطُّ حَتَّى يَرَى مَقْعَدَهُ فِي الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَلَمَّا نَزَلَ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَأْسُهُ عَلَى فَخِذِي غُشِيَ عَلَيْهِ سَاعَةً ثُمَّ أَفَاقَ فَأَشْخَصَ بَصَرَهُ إِلَى السَّقْفِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى قَالَتْ عَائِشَةُ قُلْتُ إِذًا لَا يَخْتَارُنَا قَالَتْ عَائِشَةُ وَعَرَفْتُ الْحَدِيثَ الَّذِي كَانَ يُحَدِّثُنَا بِهِ وَهُوَ صَحِيحٌ فِي قَوْلِهِ إِنَّهُ لَمْ يُقْبَضْ نَبِيٌّ قَطُّ حَتَّى يَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَكَانَتْ تِلْكَ آخِرَ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْلَهُ اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی وو دروغتیا په حالت کښې. یو نبی نهٔ دے وفات شوے تر دے پورے چه هغه خپل ځائے په جنت کښې لیدلے نهٔ وی او بیا اختیار ورکول شی. حضرت عائشه وائی هر کله چه د رسول الله ﷺ د وفات وخت راغے. نو د حضرت سر ځما په ورون باندے وو. حضرت ﷺ په یو ساعت کښې بیهوشه شو. بیا په هوش کښې راغے او سترګې ئے د چت په طرف اوغړولے او اوئے فرمائیل یا الله د اوچتو ملګرو سره مے کړه (یعنی د پیغمبرانو سره کوم چه په علیین کښې اوسیږی). حضرت عائشه وائی دغه وخت ما اووے اوس تاسو مونږ ته اختیار کولو والا نهٔ یئ. او ما ته را یاد شو هغه حدیث چه حضرت ﷺ د روغتیا په حالت کښې فرمائیلے وو. یو نبی نهٔ دے وفات شوے تر دے پورے چه هغه خپل ځائے په جنت کښې لیدلے نهٔ وی او هغهٔ ته اختیار ورکړے شوے نهٔ وی. حضرت عائشه وائی دا آخری کلمه وه چه رسول الله ﷺ اوفرمائیله اَللّٰهُمَّ الرَّفِیْقَ الْاَعْلٰی.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے وائی چه رسول

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ فَطَارَتِ الْقُرْعَةُ عَلَى عَائِشَةَ وَحَفْصَةَ فَخَرَجَتَا مَعَهُ جَمِيعًا وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ بِاللَّيْلِ سَارَ مَعَ عَائِشَةَ يَتَحَدَّثُ مَعَهَا فَقَالَتْ حَفْصَةُ لِعَائِشَةَ أَلَا تَرْكَبِينَ اللَّيْلَةَ بَعِيرِي وَأَرْكَبُ بَعِيرَكِ فَتَنْظُرِينَ وَأَنْظُرُ قَالَتْ بَلَى فَرَكِبَتْ عَائِشَةُ عَلَى بَعِيرِ حَفْصَةَ وَرَكِبَتْ حَفْصَةُ عَلَى بَعِيرِ عَائِشَةَ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جَمَلِ عَائِشَةَ وَعَلَيْهِ حَفْصَةُ فَسَلَّمَ ثُمَّ سَارَ مَعَهَا حَتَّى نَزَلُوا فَافْتَقَدَتْهُ عَائِشَةُ فَغَارَتْ فَلَمَّا نَزَلُوا جَعَلَتْ تَجْعَلُ رِجْلَهَا بَيْنَ الْإِذْخِرِ وَتَقُولُ يَا رَبِّ سَلِّطْ عَلَيَّ عَقْرَبًا أَوْ حَيَّةً تَلْدَغُنِي رَسُولُكَ وَلَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقُولَ لَهُ شَيْئًا

اللهﷺ چه به هر کله سفر ته وتلو نو خسنړے به ئے غورځوو په خپلو بيبيانو باندے. يو ځل خسنړے په ما باندے او د مؤمنانو په مور حفصهؓ باندے رااوختو. مونږ دواړه د حضرتﷺ سره رااووتو او حضرتﷺ چه به هر کله د شپے سفر کوو نو د حضرت عائشےؓ سره به تلو او د هغے سره به خبرے کولے. حضرت حفصےؓ عائشےؓ ته اووے نن شپه ته ځما په اوښ باندے سوره شه او زه به ستا په اوښ باندے سوره شم ته به اووينے هغه ځه چه تا نۀ وی ليدلی او زه به اووينم هغه ځه چه ما نۀ وی ليدلی. حضرت عائشےؓ اووے ښه ده او هغه د حفصےؓ په اوښ باندے سوره شوه. او حفصهؓ د هغے په اوښ باندے سوره شوه. د شپے چه رسول اللهﷺ د حضرت عائشےؓ د اوښ په طرف راغے چه اوئے کتل نو په هغے باندے حفصهؓ ناسته وه. حضرتﷺ ورته سلام اوکړو او د هغے سره کيښناستو روان وو تردے پورے چه په خپل منزل باندے کوز شو. او حضرت عائشےؓ حضرتﷺ اونۀ موندو (ټوله شپه) هغے ته غيرت راغے هر کله چه کوزه شوه نو هغے خپلے خپے په سرګړی کښ غورځولے اووئيل به ئے يا الله په ما باندے مسلط کړه يو لړم يا مار چه ما اوچيچی. هغه خو ستا رسولﷺ دے هغه ته ځۀ نۀ شم وئيلے[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى

د انس بن مالكؓ نه روايت دے وائی چه ما د رسول اللهﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئے د عائشےؓ فضيلت په نورو ښځو باندے داسے دے لکه چه د ثريد غوره والے په نورو طعامونو دے (ثريد د

[1] دا حضرت عائشےؓ د پسخيدو او غيرت د وجے نه اووے او دا ښځو ته معاف دے لکه چه پورته تير شو. مهلب وائی دا دے حديث نه دا هم معلومه شوه چه په نمبر نمبر اوسيدل د هرے ښځے سره په حضرتﷺ باندے واجب نۀ وو. ورنه حفصے به داسے کار ولے کولو او دا ځۀ ضروری نۀ ده خکه چه کچرے نمبر په حضرتﷺ باندے واجب هم وی بيا هم په سفر کښ په تلو تلو کښ د هرے ښځے خواله تلے شی دغه شان په حضر کښ هم د ځۀ ضروری کار دپاره اوښکلول او لاس وروړل کولے شی په دی شرط چه وخت نۀ لګوی. (نووی)

سَائِرِ الطَّعَامِ

ډوډۍ او غوښې په ټولو خوړو کیدو سره جوړیږي،

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِمَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي حَدِيثِ إِسْمَعِيلَ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ

د انس ؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ د پورتنی حدیث پشان اوفرمائیل او دد ے حدیث دوارو راویانو دا نه دی وئیلی چه: ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه. او اسماعیل راوی وئیلی دی چه اوریدلی دی هغهٔ د انس بن مالك ؓ نه.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا حَدَّثَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهَا إِنَّ جِبْرِيلَ يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلَامَ قَالَتْ فَقُلْتُ وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ

د حضرت عائشې صدیقې ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هغوی ته (یعنی عائشې ؓ ته) اوفرمائیل جبرائیل ؑ تاته سلام وئیلے دے. هغوی اووے وعلیه السلام ورحمة الله.

عَنْ عَائِشَةَ حَدَّثَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ لَهَا بِمِثْلِ حَدِيثِهِمَا

د عائشې ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هغوی ته د پورتنی حدیث پشان اوفرمائیل.

عَنْ زَكَرِيَّاءَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د زکریا نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَا عَائِشَةُ هَذَا جِبْرِيلُ يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلَامَ قَالَتْ فَقُلْتُ وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ قَالَتْ وَهُوَ يَرَى مَا لَا أَرَى

د حضرت عائشې صدیقې ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے عائشې! دا جبرائیل ؑ دے تاته سلام وائی ما اووے وعلیه السلام ورحمة الله. حضرت عائشه ؓ وائی حضرت ﷺ به لیدلو هغه څه چه ما به نه لیدل

حَدِيثُ أُمِّ زَرْعٍ

د اُمِّ زَرع د حدیث بیان

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ جَلَسَ إِحْدَى عَشْرَةَ امْرَأَةً فَتَعَاهَدْنَ وَتَعَاقَدْنَ أَنْ لَا يَكْتُمْنَ مِنْ أَخْبَارِ أَزْوَاجِهِنَّ شَيْئًا قَالَتِ الْأُولَى زَوْجِي لَحْمُ جَمَلٍ غَثٍّ عَلَى رَأْسِ جَبَلٍ وَعْرٍ لَا سَهْلٌ فَيُرْتَقَى وَلَا سَمِينٌ فَيُنْتَقَلُ قَالَتِ الثَّانِيَةُ زَوْجِي لَا أَبُثُّ خَبَرَهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ لَا

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې ؓ نه روایت دے وائی چه یو لس ښځې کیښناستے او دا اقرار او وعده ئے اوکړه چه د خپلو خپلو خاوندانو هیڅ یو خبره به نهٔ پټه وو.

رومبۍ ښځے اووے زما خاوند لکه د خوار اوښ د غوښے دے چه هغه د یو ګران غر په څوکه باندے پرته وی نهٔ خو هغے ته صفا لاره وی چه څوك پسے اوخیژی او نهٔ خو هغه غوښه څربه ده چه پخپله راوړغږی دویمے ښځے اووے زهٔ د خپل خاوند خبر نهٔ شم خوروِلے زهٔ یریږم کهٔ

أَذَرَهُ إِنْ أَذْكُرْهُ أَذْكُرْ عُجَرَهُ وَبُجَرَهُ قَالَتِ الثَّالِثَةُ زَوْجِي الْعَشَنَّقُ إِنْ أَنْطِقْ أُطَلَّقْ وَإِنْ أَسْكُتْ أُعَلَّقْ قَالَتِ الرَّابِعَةُ زَوْجِي كَلَيْلِ تِهَامَةَ لاَ حَرٌّ وَلاَ قُرٌّ وَلاَ مَخَافَةَ وَلاَ سَآمَةَ قَالَتِ الْخَامِسَةُ زَوْجِي إِنْ دَخَلَ فَهِدَ وَإِنْ خَرَجَ أَسِدَ وَلاَ يَسْأَلُ عَمَّا عَهِدَ قَالَتِ السَّادِسَةُ زَوْجِي إِنْ أَكَلَ لَفَّ وَإِنْ شَرِبَ اشْتَفَّ وَإِنِ اضْطَجَعَ الْتَفَّ وَلاَ يُولِجُ الْكَفَّ لِيَعْلَمَ الْبَثَّ قَالَتِ السَّابِعَةُ زَوْجِي غَيَايَاءُ أَوْ عَيَايَاءُ طَبَاقَاءُ كُلُّ دَاءٍ لَهُ دَاءٌ شَجَّكِ أَوْ فَلَّكِ أَوْ جَمَعَ كُلاًّ لَكِ قَالَتِ الثَّامِنَةُ زَوْجِي الرِّيحُ رِيحُ زَرْنَبٍ وَالْمَسُّ مَسُّ أَرْنَبٍ قَالَتِ التَّاسِعَةُ زَوْجِي رَفِيعُ الْعِمَادِ طَوِيلُ النِّجَادِ عَظِيمُ الرَّمَادِ قَرِيبُ الْبَيْتِ مِنَ النَّادِي قَالَتِ الْعَاشِرَةُ زَوْجِي مَالِكٌ وَمَا مَالِكٌ مَالِكٌ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكِ لَهُ إِبِلٌ كَثِيرَاتُ الْمَبَارِكِ قَلِيلاَتُ الْمَسَارِحِ إِذَا سَمِعْنَ صَوْتَ الْمِزْهَرِ أَيْقَنَّ أَنَّهُنَّ هَوَالِكُ قَالَتِ الْحَادِيَةَ عَشْرَةَ زَوْجِي أَبُو زَرْعٍ فَمَا أَبُو زَرْعٍ أَنَاسَ مِنْ حُلِيٍّ أُذُنَيَّ وَمَلأَ مِنْ شَحْمٍ عَضُدَيَّ

چيرے بيانوم نو پوره به ئے بيان نۀ کړے شم دومره قدرے په هغۀ کښې عيبونه دي ظاهري هم او باطني هم (او ځنو دا معنی کړيده چه زۀ يريږم کچرے بيان ئے کړم نو هغه به خفه شي او ماله به طلاق راکړي)

دريمے ښځے اووے ځما خاوند اوږد دے (يعني احمق) کچرے زۀ د هغۀ بدئ بيان کړم نو ماله به طلاق راکړي کچرے چپ پاتے کيږم نو معلقه به مے کړي (يعني نۀ به د نکاح مزے اوچتے کړم او نۀ به بالکل محرومه شم)

څلورمے ښځے اووے ځما خاوند خو داسے دے لکه نۀ يخه (يعني معتدل المزاج دے) نۀ ئے يره شته نۀ ئے غم (دائے د هغۀ تعريف اوکړو يعني د هغۀ اوچت اخلاق دي او نۀ هغه ځما په صحبت سره خفه کيږي)

پنځمے ښځے اووے ځما خاوند چه کله کور ته راځي نو شرمخ دے (يعني څملي اوده شي او څوك نۀ تنګوي) او هر کله چه بهر ته اوځي نو مزرے دے. کوم مال اسباب چه په کور کښې پريږدي د هغے تپوس نۀ کوي

شپږمے ښځے اووے ځما خاوند چه څۀ خوري نو هر څۀ خلاصوي او چه څښي نو لوښے د ويښه پوري نۀ پريږدي او چه څملي نو بدن پټ کړي او په ما باندے خپل لاس نۀ لګوي (دا هم هجو هده يعني د غوئي پشان د خوړلو څښلو والا دے د بل څۀ نۀ دے د ښځے پورے د څۀ نه خبر نۀ دے)

اوومے ښځے اووے ځما خاوند نامرد دے يا شرير زيات کم عقل دے چه په خبرو نۀ پوهيږي د جهان عيبونه په هغۀ کښې موجود دي يا داسے ظالم دے چه ستا سر يا لاس مات کړي يا په سر او لاس دواړه تاووهي.

اتمے ښځے اووے ځما خاوند په بوئ کښې زرنب دے (دا يو خوشبودار واښۀ دي) او په لاس وروړلو کښې نرم دے لکه د سوئے پشان (دا تعريف دے يعني د هغۀ ظاهر او باطن دواړه ښۀ دي)

نهمے ښځے اووے ځما خاوند اوچت محل والا اوږد قد والا او سخي

وَبَجَّحَنِي فَبَجِحَتْ إِلَيَّ نَفْسِي وَجَدَنِي
فِي أَهْلِ غُنَيْمَةٍ بِشِقٍّ فَجَعَلَنِي فِي أَهْلِ
صَهِيلٍ وَأَطِيطٍ وَدَائِسٍ وَمُنَقٍّ فَعِنْدَهُ
أَقُولُ فَلَا أُقَبَّحُ وَأَرْقُدُ فَأَتَصَبَّحُ
وَأَشْرَبُ فَأَتَقَنَّحُ أُمُّ أَبِي زَرْعٍ فَمَا أُمُّ
أَبِي زَرْعٍ عُكُومُهَا رَدَاحٌ وَبَيْتُهَا فَسَاحٌ
ابْنُ أَبِي زَرْعٍ فَمَا ابْنُ أَبِي زَرْعٍ
مَضْجَعُهُ كَمَسَلِّ شَطْبَةٍ وَيُشْبِعُهُ ذِرَاعُ
الْجَفْرَةِ بِنْتُ أَبِي زَرْعٍ فَمَا بِنْتُ أَبِي
زَرْعٍ طَوْعُ أَبِيهَا وَطَوْعُ أُمِّهَا وَمِلْءُ
كِسَائِهَا وَغَيْظُ جَارَتِهَا جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ
فَمَا جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ لَا تَبُثُّ حَدِيثَنَا
تَبْثِيثًا وَلَا تُنَقِّثُ مِيرَتَنَا تَنْقِيثًا وَلَا
تَمْلَأُ بَيْتَنَا تَعْشِيشًا قَالَتْ خَرَجَ أَبُو
زَرْعٍ وَالْأَوْطَابُ تُمْخَضُ فَلَقِيَ امْرَأَةً
مَعَهَا وَلَدَانِ لَهَا كَالْفَهْدَيْنِ يَلْعَبَانِ مِنْ
تَحْتِ خَصْرِهَا بِرُمَّانَتَيْنِ فَطَلَّقَنِي
وَنَكَحَهَا فَنَكَحْتُ بَعْدَهُ رَجُلًا سَرِيًّا
رَكِبَ شَرِيًّا وَأَخَذَ خَطِّيًّا وَأَرَاحَ عَلَيَّ
نَعَمًا ثَرِيًّا وَأَعْطَانِي مِنْ كُلِّ رَائِحَةٍ
زَوْجًا قَالَ كُلِي أُمَّ زَرْعٍ وَمِيرِي أَهْلَكِ
فَلَوْ جَمَعْتُ كُلَّ شَيْءٍ أَعْطَانِي مَا بَلَغَ
أَصْغَرَ آنِيَةِ أَبِي زَرْعٍ قَالَتْ عَائِشَةُ قَالَ

دے (د هغهٔ باورچي خانه همیشه ګرمه وی نو ډیرے ایرے ترے اوځی) د هغهٔ کور نژدے دے مجلس او مسافر خانے ته (یعنی سردار او سخی دے او لنګر ئے جاری دے)

لسمے ښځے اووے ځما د خاوند نوم مالك دے مالك افضل دے ځمادِدے تعریف نه د هغهٔ د اوښانو ډیرے شُترخانے دی او کمترے چراګاه دی (یعنی په میلمستیا کښں د هغهٔ اوښان ډیر ذبحه کیږی په دی وجه د هغهٔ د شتر خانونه ډیر کم ځنګل ته ځریدو له ځی) هر کله چه اوښں د باجے آواز واوری نو د خپل ذبح کیدو یقین ئے راشی. (په میلمستیا کښں د راګ او باجے معمول وو په دے سبب سره د باجے په آواز اوریدو سره د اوښانو د خپلو ذبح کیدو یقین راتلو.

یولسمے ښځے اووے چه ځما د خاوند نوم ابوذرع دے او څومره ښه ابوزرع دے هغه په کالو سره ځما دواړه غوږونه ښائسته کړی دی او د چربۍ نه ئے ځما دواړه متے ډکے کړے دی (یعنی زهٔ ئے څربه کړے او خوشحاله کړے یم) نو ځما روح ډیر په آرام دے. هغهٔ ما لره په ګډو بزو والا کښں اوموندہ چه د غرونو په لمنو کښں اوسیدلو نو هغه زهٔ د اسونو او اوښانو او پتو مالکه کړم (یعنی زهٔ ډیره ذلیله او محتاجه وم د هغهٔ خبره کوم هغه ما ته بد نهٔ وائی. چه اوده شم نو د سحره پورے اوده یم (یعنی ځهٔ کار راباندے نهٔ کوی) او چه څښنم نو په مړه کیږه څښنم د مور د ابوزرع به څهٔ اووایم څومره ښه ده مور د ابوزرع د هغے لوئے لوئے پنډوی ارت او کشاده کور. د ځوئ د ابوزرع به څهٔ اووایم څومره ښهٔ دے ځوئ د ابوزرع د هغهٔ د خوب ځائے لکه د تورے میان (یعنی نازك بدن دے) هغهٔ لره خوشحاله کوی د حلوان لاس (یعنی کم خور دے) د لور د ابوزرع به څهٔ اووے ډیره ښه ده لور د ابوزرع د خپل پلار مور تابعداره او د خپلو کپړو

لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنْتُ لَكِ كَأَبِي زَرْعٍ لِأُمِّ زَرْعٍ

دکونکی ده (یعنی ځربه ده) د خپلے ښځے د شك (یعنی د خپل خاوند خوښه ده په دے وجه د هغے بن په دے سره سوزي) د وینځے د ابوزرع به څه اووے . ډیره ښه ده وینځه د ابوزرع خما خبره په ظاهرولو نه مشهوره کوي او زمونږ خوراك نه اوچتوی نه وړی او زمونږه کور په ګندګۍ سره سخا نه ساتی. ابوزرع بهر اووتو هر کله چه په مشکونو کښې پئ شریلے شول (د غوړو ویستو دپاره) نو هغه میلاؤ شو د یوے ښځے سره چه د هغے سره د هغے دوه ماشومان وو لکه دوه شرمخان د هغے غیږه کښې د دوو انارو سره لوبے کولے. نو ابوزرع ما ته طلاق راکړو او د هغے ښځے سره ئے نکاح اوکړه . بیا ما د هغے نه پس د یو سردار سړی سره نکاح اوکړه چه د ښکلی آس سوار او نیزه باز وو هغهٔ ما ته څاروی ځناور ډیر راکړل او هغهٔ ما ته د هر یو څاروی نه جوړه راکړه. او هغه ما ته اووے چه اے اُم زرع نور او خوروه په خپلو خلقو. پس کچرے زهٔ جمع کړم هغه څهٔ چه دویم خاوند راکړو. نو د ابوزرع دوړو کی لوښی برابر به او نهٔ رسی (یعنی د دویم خاوند احسان د رومبی خاوند نه ډیر کم دے) حضرت عائشهؓ وائی رسول اللهﷺ ما ته اوفرمائیل زهٔ ستا دپاره داسے یم لکه ابوزرع چه د اُم زرع دپاره وو. (ستا خاطر کوم او په ټولو خبرو کښې تشبیهه ضروری نهٔ دے نو حضرتﷺ طلاق نهٔ دی ورکړی حضرت عائشےؓ ته او دا په غیبت کښې داخل نهٔ دی څهٔ چه ښځو د خپلو خاوندانو ذکر اوکړو ولے چه هغوی د خپلو خاوندانو نوم نهٔ دے اخستے او د کومے پورې چه نوم اخلی او د چا بد نهٔ وائی هغه غیبت نهٔ دے. دویمه دا چه دا ښځے مجهول دی دا کهٔ غیبت هم کوی نو څهٔ خبره ده. او په دے وخت کښې کهٔ چرے یوه ښځه د خپل خاوند بد والے د هغه خلقو په مخکښې بیان کړی چه هغه د هغے خاوند لره پیژنی نو هغه به غیبت وی اګر کهٔ نوم ئے هم وانهٔ خلی. (

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ عَيَايَاءُ طَبَاقَاءُ وَلَمْ يَشُكَّ وَقَالَ قَلِيلَاتُ الْمَسَارِحِ وَقَالَ وَصِفْرُ رِدَائِهَا وَخَيْرُ نِسَائِهَا وَعَقْرُ جَارَتِهَا وَقَالَ وَلَا تَنْقُثُ مِيرَتَنَا تَنْقِيثًا وَقَالَ وَأَعْطَانِي مِنْ كُلِّ ذَابِحَةٍ زَوْجًا

نووی[1]

د هشام بن عروه نه په دے اسناد سره روایت دے مگر په دے کښ بغیر د شك نه عَیَایَاءُ طَبَاقَاءُ دے.

بَابُ فَضَائِلِ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا

باب : د حضرت فاطمة زهراء رضی الله تعالی عنها فضیلت

عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُولُ إِنَّ بَنِي هِشَامِ بْنِ الْمُغِيرَةِ اسْتَأْذَنُونِي أَنْ يُنْكِحُوا ابْنَتَهُمْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَلَا آذَنُ لَهُمْ

د مسور بن مخرمه نه روایت دے چه هغوی اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه په منبر باندے ئے فرمائیل چه د هشام بن مغیره لونړو خما نه اجازت اوغوښتو د خپلے لور د نکاح کولو دپاره د علیؓ بن ابی طالب سره (یعنی د ابوجهل د لور چه د هغے د نکاح دپاره حضرت علیؓ پیغام ورکړے وو) نو زهٔ اجازت نهٔ ورکوم نهٔ ورکوم نهٔ ورکوم. البته په دے صورت کښ به

---

[1] : یولس ښځے کیښناستے او هغوی تولو دا اقرار او عهد اوکړو چه د خپلو خپلو خاوندانو یوه خبره به نهٔ پټوؤ. او هره یوه به د خپل خپل خاوند حال بیانوؤ. نوویؒ وائی خطیب بغدادیؒ په خپل کتاب مبهمات کښ لیکلی دی چه هغه یولس ښځو نومونه ماته نهٔ دی معلوم چا به اخستے وی مگر په غریبه طریقه سره د هغوی نومونه ما ته رارسیدلی دی. بیانئے اووے د ومے ښځے نوم عمرو بنت عمرو وو او د دریمے حبّی بنت کعب د څلورمے مهدو بنت ابی مزرمه. د پنځمے کبشه. د شپږمے هند د اوومے حیؔ بنت علقمه د اتمے بنت اوس بن عبد د لسمے کبشه بنت ارقم د یولسمے أم زرع بنت اکیهل بن ساعد انتهی. او د رومبئ ښځے نوم مذکور نهٔ دے. په څنے کتابونو کښ دی چه هغه بنت ابومهزومه وو او څنو په دے ترتیب کښ اختلاف هم کړے دے او دا ښځے تولے د یمن اوسیدونکے وے

رومبئ ښځے اووے خما خاوند لکه د خوار اوښ غوښه ده. چه هغه د یو گران غر په څوکه باندے ایخودے شوی دی. نهٔ خو هغے ته صفا لاره شته چه څوك پسے اوخیژی او نهٔ هغه غوښه څربه ده چه راواخستے شی د تکلیف سره مطلب دادے چه خما په خاوند کښ څهٔ خوبی نشته او د دے سره نے مزاج کښ غربت هم نشته دے بلکه غرور او سپیرهٔ توب دے او بد اخلاقه هم دے.

پنځمے ښځے اووے خما خاوند چه هر کله کورته راځی نو شرمخ دے او هر کله چه بهر ته اوځی نو منزرے دے. نوویؒ وائی دا هم تعریف دے. د شرمخ نه دا غرض دے چه ډیر اوده کیږی د خپل مال او اسباب د فرك نه غافله وی. او بهر منزرے دے یعنی غیرتی او بهادر دے په جنگ کښ. ابن ابی اویس وائی د شرمخ نه دا غرض دے چه د کور د راتلو سره د شرمخ پشان په ما راپریوزی او جماع ډیره کوی. او صحیح رومبئ معنی ده.

ثُمَّ لاَ آذَنُ لَهُمْ ثُمَّ لاَ آذَنُ لَهُمْ إِلاَّ أَنْ يُحِبَّ ابْنُ أَبِي طَالِبٍ أَنْ يُطَلِّقَ ابْنَتِي وَيَنْكِحَ ابْنَتَهُمْ فَإِنَّمَا ابْنَتِي بَضْعَةٌ مِنِّي يَرِيبُنِي مَا رَابَهَا وَيُؤْذِينِي مَا آذَاهَا

اجازت ورکړم چه علیؓ خما لور له طلاق ورکړی او د هغهٔ د لور سره نکاح اوکړی ځکه چه خما لور خما یوه ټکړه ده. په شک کښې اچوی ما لره څهٔ چه هغې لره په شک کښې غورځوی او تکلیف وی ما ته په څهٔ سره چه هغې ته تکلیف وی ‹ ددے نه معلومه شوه چه رسول اللهﷺ ته تکلیف رسول په هر حال کښې حرام دی اګر کهٔ د تکلیف سبب یو مباح امر وی دویم نکاح کول اګر چه جائز وو. خو هر کله چه فاطمےؓ ته د هغې په وجه سره خفګان وو او حضرت ته د فاطمےؓ د خفګان په وجه سره خګان وو. ځکه حضرت ﷺ منع کړو په وجه د کمال د شفقت په علیؓ او فاطمهؓ باندے. دویمه دا چه کیدے شی چه حضرت فاطمهؓ په څهٔ فتنه کښې پریوتے وے د رشك په وجه سره کوم چه د زنانو طبعی امر دے.

عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي يُؤْذِينِي مَا آذَاهَا

د مسور بن مخرمهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه فاطمه خما یوه ټکړه ده، ددے وجے نه کوم څیز دے ته تکلیف ورکوی هغه ما ته هم تکلیف راکوی.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ أَنَّهُمْ حِينَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ مِنْ عِنْدِ يَزِيدَ بْنِ مُعَاوِيَةَ مَقْتَلَ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا لَقِيَهُ الْمِسْوَرُ بْنُ مَخْرَمَةَ فَقَالَ لَهُ هَلْ لَكَ إِلَيَّ مِنْ حَاجَةٍ تَأْمُرُنِي بِهَا قَالَ فَقُلْتُ لَهُ لاَ قَالَ لَهُ هَلْ أَنْتَ مُعْطِيَّ سَيْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَغْلِبَكَ الْقَوْمُ عَلَيْهِ وَايْمُ اللَّهِ لَئِنْ أَعْطَيْتَنِيهِ لاَ يُخْلَصُ إِلَيْهِ أَبَدًا حَتَّى تَبْلُغَ نَفْسِي إِنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ خَطَبَ بِنْتَ أَبِي جَهْلٍ عَلَى فَاطِمَةَ فَسَمِعْتُ رَسُولَ

د امام زین العابدین علی بن حسینؓ نه روایت دے هغه چه هر کله مدینے ته د یزید بن معاویه د خوا نه راغے د امام حسینؓ د شهادت نه پس نو د هغهٔ سره مسور بن مخرمه میلاؤ شو او تپوس ئے ترے اوکړو کهٔ ستاسو څهٔ حاجت وی نو ما ته اوفرمایئ. امام زین العابدین اوفرمائیل هیڅ نشته مسور اووے تاسو د رسول اللهﷺ توره ما ته راکړے وے ‹نو ښه به وه› ولے چه زهٔ یریږم چه خلق ئے ستا نه په زبردستئ سره وانخلی. قسم په الله دے کهٔ چرے هغه توره تاسو ما ته راکړئ نو د کومے پورے چه خما په بدن کښې روح وی نو هیڅوك ئے خما نه نهٔ شی اخستے او حضرت علیؓ د فاطمےؓ باوجود د ابوجهل لور ته پیغام اولیږو نو ما د رسول اللهﷺ نه واورېدل چه

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ النَّاسَ فِي ذٰلِكَ عَلَى مِنْبَرِهِ هٰذَا وَأَنَا يَوْمَئِذٍ مُحْتَلِمٌ فَقَالَ إِنَّ فَاطِمَةَ مِنِّي وَإِنِّي أَتَخَوَّفُ أَنْ تُفْتَنَ فِي دِينِهَا قَالَ ثُمَّ ذَكَرَ صِهْرًا لَهُ مِنْ بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ فَأَثْنَى عَلَيْهِ فِي مُصَاهَرَتِهِ إِيَّاهُ فَأَحْسَنَ قَالَ حَدَّثَنِي فَصَدَقَنِي وَوَعَدَنِي فَأَوْفَى لِي وَإِنِّي لَسْتُ أُحَرِّمُ حَلَالًا وَلَا أُحِلُّ حَرَامًا وَلٰكِنْ وَاللهِ لَا تَجْتَمِعُ بِنْتُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِنْتُ عَدُوِّ اللهِ مَكَانًا وَاحِدًا أَبَدًا

خطبه ئے اورولہ خلقو ته په دے منبر باندے. او په دغه ورځو زهٔ بالغ شوے وم. حضرت ﷺ اوفرمائیل فاطمهؓ ځما د بدن یوه ټکړه ده. او زهٔ یریږم چه د هغې په دین به څهٔ افت راشي بیائے بیان اوکړو د خپل یو خوم چه د عبد شمس د اولاد نه وو (یعنی د حضرت عثمان بن عفانؓ) او تعریف ئے اوکړو د هغوی د خپلولئ او اوئے فرمائیل هغوی چه کومه خبره ماته کړے وه هغه ئے رښتیا کړے وه او کومه وعده چه ئے کړے وه هغه ئے پوره کړه. او زهٔ هیڅ حلال لره نهٔ حرامه وم او نهٔ حرام لره حلاله وم. لیکن په الله قسم دے چه د الله د رسول لور او د الله د دشمن لور به یو ځائے نهٔ جمع کیږي.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ خَطَبَ بِنْتَ أَبِي جَهْلٍ وَعِنْدَهُ فَاطِمَةُ بِنْتُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَمِعَتْ بِذٰلِكَ فَاطِمَةُ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَهُ إِنَّ قَوْمَكَ يَتَحَدَّثُونَ أَنَّكَ لَا تَغْضَبُ لِبَنَاتِكَ وَهٰذَا عَلِيٌّ نَاكِحًا ابْنَةَ أَبِي جَهْلٍ قَالَ الْمِسْوَرُ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعْتُهُ حِينَ تَشَهَّدَ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَنْكَحْتُ أَبَا الْعَاصِ بْنَ الرَّبِيعِ فَحَدَّثَنِي فَصَدَقَنِي وَإِنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ مُضْغَةٌ مِنِّي وَإِنَّمَا أَكْرَهُ أَنْ يَفْتِنُوهَا وَإِنَّهَا وَاللهِ لَا تَجْتَمِعُ بِنْتُ رَسُولِ اللهِ وَبِنْتُ عَدُوِّ اللهِ عِنْدَ

د علی بن حسینؓ نه روایت دے چه مسور بن مخرمه دوی ته اوویئیل چه حضرت علیؓ د ابوجهل لور ته پیغام ورکړو او د هغهٔ په نکاح کښ د رسول الله ﷺ لور فاطمهؓ بی بی هم وه. فاطمهؓ چه دا دے خبرے نه خبره شوه نو د رسول الله ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو ستا خلق وائی چه تاسو د خپلو لونړو د پاره نهٔ غصه کیږئ او دا علیؓ دے چه د ابوجهل د لور سره نکاح کونکے دے. مسور وائی رسول الله ﷺ اودریدو او تشهد ئے اولوستو. بیائے اوفرمائیل ما د خپلے لور نکاح (د زینب) د ابوالعاص بن ربیع سره اوکړه هغه چه څهٔ خبره ما ته کړے وه رښتیائے کړے وه. او فاطمه د محمد لور ځما د غوښے ټکړه ده او په ما بد لګی چه خلق د د هغې په دین باندے آفت راولي. (یعنی هر کله چه علیؓ دویم نکاح اوکړی نو کیدے شی فاطمهؓ به د غیرت د وجے نه څهٔ خبره د خپل خاوند په خلاف اووائی یا به د هغوی نافرمانی اوکړی او ګنهګاره به شی) او په اللهؓ قسم دے چه د اللهؓ د رسول لور او د اللهؓ د دشمن لور دواړه به د یو سړی سره نهٔ جمع کیږی. دا دے په

رَجُلٍ وَاحِدٍ أَبَدًا قَالَ فَتَرَكَ عَلِيٌّ الْخِطْبَةَ

اوريدو حضرت علی پيغام پريخودو (يعنی د ابوجهل د لور سره ئے د نكاح كولو اراده موقوف كړه)

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د زهری نه په دے اسناد داسے حديث مروی دے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا فَاطِمَةَ ابْنَتَهُ فَسَارَّهَا فَبَكَتْ ثُمَّ سَارَّهَا فَضَحِكَتْ فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ لِفَاطِمَةَ مَا هَذَا الَّذِي سَارَّكِ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَكَيْتِ ثُمَّ سَارَّكِ فَضَحِكْتِ قَالَتْ سَارَّنِي فَأَخْبَرَنِي بِمَوْتِهِ فَبَكَيْتُ ثُمَّ سَارَّنِي فَأَخْبَرَنِي أَنِّي أَوَّلُ مَنْ يَتْبَعُهُ مِنْ أَهْلِهِ فَضَحِكْتُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صديقے نه روايت دے چه رسول الله ﷺ خپله لور حضرت فاطمه را اوغوښته او په غوږ كښې ئے هغے ته خبره اوكړه نو هغه په ژړا شوه. بيائے په غوږ كښې هغے ته څه اوفرمائيل نو هغه په خنده شوه. ما د هغے نه تپوس اوكړو مخكښې تا ته حضرت ﷺ څه اوفرمائيل نو ته په ژړا شوے بيائے درته څه اوفرمائيل نو په خندا شوے. دا څه خبره وه؟ هغوی اووے مخكښې ما ته حضرت ﷺ اوفرمائيل خما مرګ نژدے دے نو زه په ژړا شوم. بيائے اوفرمائيل خما په اهل بيتو كښې به د ټولونه مخكښې ته په ما پسے راشے نو زه په خندا شوم[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنَّ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهُ لَمْ يُغَادِرْ مِنْهُنَّ وَاحِدَةً فَأَقْبَلَتْ فَاطِمَةُ تَمْشِي مَا تُخْطِئُ مِشْيَتُهَا مِنْ مِشْيَةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَلَمَّا رَآهَا رَحَّبَ بِهَا فَقَالَ مَرْحَبًا بِابْنَتِي ثُمَّ أَجْلَسَهَا عَنْ يَمِينِهِ أَوْ عَنْ شِمَالِهِ ثُمَّ سَارَّهَا فَبَكَتْ بُكَاءً شَدِيدًا فَلَمَّا رَأَى جَزَعَهَا سَارَّهَا الثَّانِيَةَ فَضَحِكَتْ فَقُلْتُ لَهَا خَصَّكِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ نِسَائِهِ بِالسِّرَارِ ثُمَّ أَنْتِ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صديقے نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ ټولے بيبيانے د حضرت په خوا كښې وے (د حضرت ﷺ په بيمارئ كښې) څوك باقی نه وو چه هغه نه وو په دے كښې حضرت فاطمه راغله په داسے طريقه روانه وه لكه څنګه چه به رسول الله ﷺ روان وو. حضرت ﷺ چه هر كله هغے ته اوكتل نو مرحبائے اووے. او اوئے فرمائيل مرحبا خما لورے او بيائے د ځان سره ښی طرفته كينښنوله يا ګس طرفته او په غوږ كښې ئے ورته په پټه سره څه اوفرمائيل نو هغے ډير اوژړل هر كله چه حضرت ﷺ د هغے دا حال اوليدو نو دوباره ئے ورته په غوږ كښې څه اوفرمائيل نو هغه په خندا

[1] سبحن الله، د حضرت فاطمے د رسول الله ﷺ سره دومره مينه وه چه د خاوند او بچو په جدائی سره ورته څه خفګان نه وو ليكن د حضرت ﷺ سره په ميلاويدو ورته خوشحالی راغله

تَبْكِينَ فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلْتُهَا مَا قَالَ لَكِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَا كُنْتُ أُفْشِي عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِرَّهُ قَالَتْ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ عَزَمْتُ عَلَيْكِ بِمَا لِي عَلَيْكِ مِنَ الْحَقِّ لَمَا حَدَّثْتِنِي مَا قَالَ لَكِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ أَمَّا الْآنَ فَنَعَمْ أَمَّا حِينَ سَارَّنِي فِي الْمَرَّةِ الْأُولَى فَأَخْبَرَنِي أَنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يُعَارِضُهُ الْقُرْآنَ فِي كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ وَإِنَّهُ عَارَضَهُ الْآنَ مَرَّتَيْنِ وَإِنِّي لَا أُرَى الْأَجَلَ إِلَّا قَدِ اقْتَرَبَ فَاتَّقِي اللهَ وَاصْبِرِي فَإِنَّهُ نِعْمَ السَّلَفُ أَنَا لَكِ قَالَتْ فَبَكَيْتُ بُكَائِي الَّذِي رَأَيْتِ فَلَمَّا رَأَى جَزَعِي سَارَّنِي الثَّانِيَةَ فَقَالَ يَا فَاطِمَةُ أَمَا تَرْضَيْ أَنْ تَكُونِي سَيِّدَةَ نِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ أَوْ سَيِّدَةَ نِسَاءِ هَذِهِ الْأُمَّةِ قَالَتْ فَضَحِكْتُ ضَحِكِي الَّذِي رَأَيْتِ

شوه. ما هغے ته اووے چه رسول الله ﷺ خاص تاته د راز خبرے اوکړے بیا تا اوژړل هر کله چه حضرت ﷺ پاڅیدو نو ما د هغوی نه تپوس اوکړو چه تاته رسول الله ﷺ څۀ اوفرمائیل هغوی اووے چه زۀ د حضرت ﷺ راز ښکاره کونکے نۀ یم. هر کله چه حضرت ﷺ وفات شو نو ما هغے له قسم ورکړو د هغه حق کوم چه په هغوی باندے وو او ورته مے اووے بیان کړه ما ته چه رسول الله ﷺ تاته څۀ فرمائیلی وو هغوی اووے اوس به درته زۀ بیان اوکړمه . په رومبی خل حضرت ﷺ خما په غوږ کښں دا اوفرمائیل چه حضرت جبرائیلؑ به هر کال یو خل یا دوه خله د قرآن کریم دور کوو. په دے کال هغوی دوه خله دَور اوکړو. نو خما خیال دے چه خم اوخت نږدے راغلے دے (ددنیا نه د تلو وخت) نو د الله نه یره او صبر کوه زۀ به تاته ډیر ښه پخکښں یم ددے په اوریدو ما ژړا شروع کړه او دغسے تا اولیدم. او هر کله چه حضرت ﷺ زۀ په ژړا اولیدم نو دوباره ئے خما غوږ ته خلۀ نږدے کړه او اوئے فرمائیل اے فاطمےؓ! تۀ راضی نۀ ئے په دے خبره سره چه د مؤمنانو ښځو یا ددے امت د ښځو سرداره شے. ددے په اوریدو ما اوخندل څنګه چه تاسو اولیدم[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتِ اجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُغَادِرْ مِنْهُنَّ امْرَأَةً

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقےؓ نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ تولے بیبیانے جمع شوے یوه پکښں پاتے نۀ شوه. بیا

---

[1] ددے حدیث نه صفا ونلے ده چه ددے امت د تولو ښځو نه حضرت فاطمة الزهراءؓ افضله ده بلکه خنو ورته د رومبو امتونو د ښځو نه هم افضله ونیلے ده. او دانے ونیلی دی چه حضرت فاطمه د حضرت ﷺ د بدن ټکړه ده په دے وجه د هغے برابر یوه ښځه نۀ شی کیدے او د جمهورو دا قول دے چه د حضرت مریم نه پس د تولو نه افضله ده. ولے چه د حضرت مریم په شان کښں الله تعالی فرمائیلي دی ﴿وَاصْطَفٰكِ عَلٰى نِسَاءِ الْعٰلَمِيْنَ﴾ سبحن الله د حضرت ﷺ د اهل بیتو رضی الله عنهم اجمعین خومره لویه درجه ده. حضرت فاطمه ددے امت د تولو ښځو سرداره ده او امام حسن او امام حسین د جنت د تولو خوانانو سرداران دی. او حضرت علی د حضرت ﷺ رور دے په دنیا او آخر کښں راضی د وی الله تعالی د هغوی نه. او زمونږ حشر د الله تعالی د هغوی په غلامانو کښں اوکری آمین یا رب العالمین

فَجَاءَتْ فَاطِمَةُ تَمْشِي كَأَنَّ مِشْيَتَهَا مِشْيَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِابْنَتِي فَأَجْلَسَهَا عَنْ يَمِينِهِ أَوْ عَنْ شِمَالِهِ ثُمَّ إِنَّهُ أَسَرَّ إِلَيْهَا حَدِيثًا فَبَكَتْ فَاطِمَةُ ثُمَّ إِنَّهُ سَارَّهَا فَضَحِكَتْ أَيْضًا فَقُلْتُ لَهَا مَا يُبْكِيكِ فَقَالَتْ مَا كُنْتُ لِأُفْشِيَ سِرَّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ فَرَحًا أَقْرَبَ مِنْ حُزْنٍ فَقُلْتُ لَهَا حِينَ بَكَتْ أَخَصَّكِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحَدِيثِهِ دُونَنَا ثُمَّ تَبْكِينَ وَسَأَلْتُهَا عَمَّا قَالَ فَقَالَتْ مَا كُنْتُ لِأُفْشِيَ سِرَّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا قُبِضَ سَأَلْتُهَا فَقَالَتْ إِنَّهُ كَانَ حَدَّثَنِي أَنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يُعَارِضُهُ بِالْقُرْآنِ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً وَإِنَّهُ عَارَضَهُ بِهِ فِي الْعَامِ مَرَّتَيْنِ وَلَا أُرَانِي إِلَّا قَدْ حَضَرَ أَجَلِي وَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِي لُحُوقًا بِي وَنِعْمَ السَّلَفُ أَنَا لَكِ فَبَكَيْتُ لِذَلِكَ ثُمَّ إِنَّهُ سَارَّنِي فَقَالَ أَلَا تَرْضَيْنَ أَنْ تَكُونِي سَيِّدَةَ نِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ أَوْ سَيِّدَةَ نِسَاءِ هَذِهِ الْأُمَّةِ فَضَحِكْتُ لِذَلِكَ

فاطمهؓ راغله حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل مرحبا اے خما لورے او هغه ئے د خان نه ښی طرفته یا گس طرفته کېښنوله بیائے د هغے په غوږ کښې یوه خبره اوفرمائیله نو هغه په ژړا شوه. بیائے ورته یوه خبره اوفرمائیله نو هغه په خندا شوه. ما اووے ته ولے ژاړے؟ هغوی اووے زۀ د هغوی راز ښکاره کولو والا نۀ یم. ما اووے ما خو د نن پشان خوشحالی چرته هم نۀ ده لیدلے چه هغه تکلیف ته دومره نږدے وی (یعنی د خفگان نه پس چه ورسره متصل خوشحالی وی) هر کله چه هغے اوژړل نو ما ورته اووے رسول الله ﷺ تا لره خاص کړے ده په دے خبره سره او مونږ ته ئے بیان نۀ کړه. بیا لا هم ته ژاړے؟ (حالانکه ستا درجه دومره زیاته شوه چه د بیبیانو نه هم زیاته راز داره شوے) او ما تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ څۀ اوفرمائیل. هغوی دغه اووے چه زۀ د رسول الله ﷺ راز ښکاره کولو والا نۀ یم هر کله چه حضرت ﷺ وفات شو نو ما ترے تپوس اوکړو. هغوی اووے حضرت ﷺ اوفرمائیل چه جبرائیلؑ به هر کال خما نه یو خل د قرآن شریف دور کولو په دے کال ئے دوه خله دور اوکړو. او خما خیال دے چه خما مرگ نږدے شوے دے او ته به د ټولو نه مخکښې خما سره میلاؤیږے او زۀ به تا ته ښه مخکښې تلونکے یم ددے په اوریدو زۀ په ژړا شوم. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل ولے ته خوشحالیږے نه چه ته د مؤمنانو د ښځو سرداره شے یا ددے أمت د ښځو سرداره شے. ددے په اوریدو ما اوخندل.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

عَنْ سَلْمَانَ قَالَ لَا تَكُونَنَّ إِنِ اسْتَطَعْتَ أَوَّلَ مَنْ يَدْخُلُ السُّوقَ وَلَا آخِرَ مَنْ يَخْرُجُ مِنْهَا فَإِنَّهَا

باب: د ام المؤمنين حضرت ام سلمهؓ فضيلت

د سلمانؓ نه روایت دے هغه به وئیلو ستا نه کېچرے کیدے شی نو د ټولو نه مخکښې بازار ته مۀ ځه. او د ټولو نه روستو د هغه ځائے نه مۀ

مَعْرَكَةُ الشَّيْطَانِ وَبِهَا يَنْصِبُ رَايَتَهُ قَالَ وَأُنْبِئْتُ أَنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَتَى نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ أُمُّ سَلَمَةَ قَالَ فَجَعَلَ يَتَحَدَّثُ ثُمَّ قَامَ فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُمِّ سَلَمَةَ مَنْ هٰذَا أَوْ كَمَا قَالَ قَالَتْ هٰذَا دِحْيَةُ قَالَ فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ ايْمُ اللهِ مَا حَسِبْتُهُ إِلَّا إِيَّاهُ حَتَّى سَمِعْتُ خُطْبَةَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخْبِرُ خَبَرَنَا أَوْ كَمَا قَالَ قَالَ فَقُلْتُ لِأَبِي عُثْمَانَ مِمَّنْ سَمِعْتَ هٰذَا قَالَ مِنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ

اوخه ځکه چه بازار د شیطان معرکه ده او هلته د هغهٔ جهنډه ولاړه وی. هغوی وائی حضرت جبرائیلؑ د رسول الله ﷺ خواله راغے. او د حضرت ﷺ په خواه کښې بی بی اُم سلمهؓ وه. حضرت جبرائیلؑ خبرے کول شروع کړل بیا پاڅیدو نو رسول الله ﷺ د هغے نه تپوس اوکړو چه دا څوک سړے وو هغوی اووے دحیه کلبی وو. اُم سلمهؓ اووے قسم په الله دے چه ما خو هغه دحیه کلبی ګڼړلو تردے پورے چه ما په خطبه کښې واوریدل د رسول الله ﷺ نه چه څه خبر حضرت ﷺ بیان فرمائیلو راوی اووئیل ما ابوعثمانؒ ته اووے. تا دا د چا نه اوریدلی دی نو هغوی اووے دا ما د اُسامه بن زیدؓ نه اوریدلی دی[1].

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ زَيْنَبَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ

باب: داُمّ المؤمنین حضرت زینب رضی الله عنها فضیلت

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْرَعُكُنَّ لَحَاقًا بِي أَطْوَلُكُنَّ يَدًا قَالَتْ فَكُنَّ يَتَطَاوَلْنَ أَيَّتُهُنَّ أَطْوَلُ يَدًا قَالَتْ فَكَانَتْ أَطْوَلَنَا يَدًا زَيْنَبُ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَصَدَّقُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ (خپلو بیبیانو ته) اوفرمائیل چه په تاسو کښې به د ټولو نه رومبئ ځما سره هغه میلاویږی چه لاسونه زیات اوږده وی. نو ټولو بیبیانو خپل خپل لاسونه ناپ کول ددے دپاره چه معلومه شی چه د کومے یوے لاس زیات اوږدهٔ دی. حضرت عائشهؓ وائی چه مونږ ټولو کښې د زینب لاسونه زیات اوږدهٔ وو. هغے به په خپلو لاسونو سره محنت کولو او صدقے به ئے ورکولے[2].

---

1 یعنی حضرت ﷺ بیان اوکړو چه جبرائیلؑ نن ځما خواله راغلے وو. دغه وخت معلومه شوه چه هغه سړے دحیه کلبی نهٔ وو بلکه حضرت جبرائیلؑ وو. ددے حدیث نه د حضرت ام سلمهؓ فضیلت معلوم شو چه هغوی جبرائیل لره لیدلے وو. او دا هم معلومه شوه چه فرښتے د بنیادمو صورت جوړولے شی او اکثر جبرائیل به د دحیه کلبی په شکل کښې راتلو.

2 نو د اوږدو لاسونو نه د حضرت ﷺ مراد سخاوت وو. او سخاوت په حضرت زینب کښې د ټولو نه زیات وو او هم هغے د ټولو نه مخکښې وفات شوه. یعنی په په کال ۲۰ھ کښې د حضرت عمرؓ د خلافت په زمانه کښې. او کچرے د اوږدو لاسونه نه په حقیقت کښې د لاسونو اوږدوالے مراد وے نو بیا خو د مؤمنانو د مور حضرت سودےؓ لاسونه د ټولو نه اوږدهٔ وو نو هغه به د ټولو نه مخکښې مره وه. په دے حدیث کښې د حضرت ﷺ دوه معجزے دی یو خو دا فرمائیل چه زهٔ به ستاسو نه مخکښې وفات کیږم. دویم د حضرت زینبؓ خبرو ورکول چه هغه به د نورو بیبیانو نه مخکښې وفات کیږی.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أُمِّ أَيْمَنَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

باب : د أم ایمن رضی الله تعالیٰ عنها فضیلت[1]

عَنْ أَنَسٍ قَالَ انْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُمِّ أَيْمَنَ فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ فَنَاوَلَتْهُ إِنَاءً فِيهِ شَرَابٌ قَالَ فَلَا أَدْرِي أَصَادَفَتْهُ صَائِمًا أَوْ لَمْ يُرِدْهُ فَجَعَلَتْ تَصْخَبُ عَلَيْهِ وَتَذَمَّرُ عَلَيْهِ

د انسؓ نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ د أم ایمنؓ خواله تشریف یوړو او زهٔ هم د حضرت ﷺ سره لاړم. هغے په یو لوښي کښې شربت راوړو. نهٔ پوهیږم چه حضرتؐ روژه دار وو یا ولے حضرتؐ هغے لره واپس کړو. هغے شور جوړ کړو او غصه ئے اوکړه په حضرت ﷺ باندے[2].

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بَعْدَ وَفَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعُمَرَ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى أُمِّ أَيْمَنَ نَزُورُهَا كَمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزُورُهَا فَلَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَيْهَا بَكَتْ فَقَالَا لَهَا مَا يُبْكِيكِ مَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ لِرَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ مَا أَبْكِي أَنْ لَا أَكُونَ أَعْلَمُ أَنَّ مَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ لِرَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَكِنْ أَبْكِي أَنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ مِنَ السَّمَاءِ فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَاءِ فَجَعَلَا يَبْكِيَانِ مَعَهَا

د حضرت انسؓ نه روایت دے وائي چه حضرت ابوبکر صدیقؓ حضرت عمرؓ ته اووے چه خما سره لاړ شه د أم ایمنؓ د ملاقات دپاره موږ د هغوی سره میلاویږو لکه چه رسول الله ﷺ به د هغوی د ملاقات دپاره تلل. هر کله چه موږ هغے ته اورسیدو نو هغه په ژړا شوه. دوارو ملګرو ورته اووے چه تهٔ ولے ژاړے. څهٔ چه د الله جل جلاله سره دي هغه ډیر غوره دی د هغه د رسولؐ دپاره. أم ایمنؓ اووے زهٔ په دے ښهٔ پوهیږم چه کوم څهٔ د الله سره دي هغه غوره دی رسول الله ﷺ ته لیکن زهٔ په دے وجه سره ژاړم چه اوس د آسمان نه د وحی راتلل بند شو د أم ایمنؓ په دے وینا سره ابوبکرؓ او عمرؓ ته هم ژړا راغله او د هغے سره په ژړا شو[3].

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أُمِّ سُلَيْمٍ أُمِّ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَبِلَالٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

باب : د انسؓ د مور حضرت أم سُلَیمؓ او د حضرت بلالؓ فضیلت

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د انسؓ نه روایت دی وائي چه رسول الله ﷺ به د هیڅ یوے ښځے

---

[1]: دا د حضرت ﷺ لوبونکی وه دد ے نوم "برکت" وو. او دا د أسامه بن زیدؓ مور وه. د حضرت عثمانؓ په خلافت کښې وفات شوے وه.

[2]: ولے چه هغه د حضرت ﷺ لوبونکی وه. په یو حدیث کښې دي چه حضرت ﷺ فرمائیلي دي ام ایمن خما دویمه مور ده د رومبئ مور نه پس.

[3]: دد ے حدیث نه معلومه شوه چه د صالحینو د زیارت دپاره تلل مستحب دی دغه شان د صالحینو په جدایئ باندے ژړل هم صحیح دي.

وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ عَلَى أَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِ إِلَّا أُمِّ سُلَيْمٍ فَإِنَّهُ كَانَ يَدْخُلُ عَلَيْهَا فَقِيلَ لَهُ فِي ذَلِكَ فَقَالَ إِنِّي أَرْحَمُهَا قُتِلَ أَخُوهَا مَعِي

کورته نه تلو علاوه د خپلو بيبيانو نه يا د اُمّ سليم نه (چه د انس مور او د ابوطلحه بي بي وه) حضرت به د اُم سليم خواله تلو. خلقو ترے ددغه تلو د وجے تپوس اوکړو حضرت ﷺ اوفرمائيل خما په دے ډير رحم راځي دد ے رور خما سره وژلے شوے وو.[1]

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَسَمِعْتُ خَشْفَةً فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالُوا هَذِهِ الْغُمَيْصَاءُ بِنْتُ مِلْحَانَ أُمُّ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ

د انسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل زۀ جنت ته لاړم نو هلته ما کشار واوريدو (يعني د تلو آواز) ما تپوس اوکړو څوك دي؟ راته اووئيلے شو چه دا غميصا لور د ملحان ده (د ام سليمؓ نوم غميصاء يا رميصاء وو) د انس بن مالكؓ د مور.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيتُ الْجَنَّةَ فَرَأَيْتُ امْرَأَةَ أَبِي طَلْحَةَ ثُمَّ سَمِعْتُ خَشْخَشَةً أَمَامِي فَإِذَا بِلَالٌ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي وائي چه ما ته جنت اوخودلے شو نو ما هلته ام سليمؓ د ابوطلحهؓ بي بي اوليدله. بيا ما خپلے مخے ته د تلو آواز واوريدو. چه اومے کتل نو بلالؓ وو.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَاتَ ابْنٌ لِأَبِي طَلْحَةَ مِنْ أُمِّ سُلَيْمٍ فَقَالَتْ لِأَهْلِهَا لَا تُحَدِّثُوا أَبَا طَلْحَةَ بِابْنِهِ حَتَّى أَكُونَ أَنَا أُحَدِّثُهُ قَالَ فَجَاءَ فَقَرَّبَتْ إِلَيْهِ عَشَاءً فَأَكَلَ وَشَرِبَ فَقَالَ ثُمَّ تَصَنَّعَتْ لَهُ أَحْسَنَ مَا كَانَ تَصَنَّعُ قَبْلَ ذَلِكَ فَوَقَعَ بِهَا فَلَمَّا رَأَتْ أَنَّهُ قَدْ شَبِعَ وَأَصَابَ مِنْهَا قَالَتْ يَا أَبَا طَلْحَةَ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ قَوْمًا أَعَارُوا عَارِيَتَهُمْ أَهْلَ بَيْتٍ فَطَلَبُوا عَارِيَتَهُمْ أَلَهُمْ أَنْ يَمْنَعُوهُمْ قَالَ لَا قَالَتْ فَاحْتَسِبْ

د انسؓ نه روايت دے وائي چه د ابوطلحهؓ يو ځوئے چه د ام سليمؓ نه پيدا وو وفات شو. ام سليم خپل کوروالؤ ته اووے ابوطلحهؓ به نۀ خبروئ د خپل ځوئ نه د کومے پورې چه ورته ماپخپله نوی وئيلي. آخر ابوطلحهؓ راغے او ام سليم ورته د ماښام خوراك مخے ته کيښودۀ. هغوی خوړل څکل اوکړل. بيا اُمّ سليم د هغوی دپاره خپل ځان ښۀ ښکلے سنبال کړو تردے پورے چه هغوی د هغے سره جماع اوکړه. هر کله چه ام سليم اوکتل چه هغه موړ شو او ددے سره ئے جماع هم اوکړه. دغه وخت هغے اووے اے ابوطلحه! کۀ څۀ خلق خپل يو څيز چا کور والؤ ته په غوښتلو سره ورکړی او بيا هغه خپل

---

[1] نوويؒ وائي ام سليمؓ او ام حرامؓ دواړه د حضرت ﷺ تروريانے وے. رضاعي يا نسبي او د حضرت ﷺ محرمے وے ددے حديث نه معلومه شوه چه د محرمے ښځے خواله تلل صحيح دي.

ابنَكَ قَالَ فَغَضِبَ وَقَالَ تَرَكْتِنِي حَتَّى تَلَطَّخْتُ ثُمَّ أَخْبَرْتِنِي بِابْنِي فَانْطَلَقَ حَتَّى أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِمَا كَانَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَارَكَ اللهُ لَكُمَا فِي غَابِرِ لَيْلَتِكُمَا قَالَ فَحَمَلَتْ قَالَ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ وَهِيَ مَعَهُ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى الْمَدِينَةَ مِنْ سَفَرٍ لَا يَطْرُقُهَا طُرُوقًا فَدَنَوْا مِنَ الْمَدِينَةِ فَضَرَبَهَا الْمَخَاضُ فَاحْتُبِسَ عَلَيْهَا أَبُو طَلْحَةَ وَانْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ أَبُو طَلْحَةَ إِنَّكَ لَتَعْلَمُ يَا رَبِّ إِنَّهُ يُعْجِبُنِي أَنْ أَخْرُجَ مَعَ رَسُولِكَ إِذَا خَرَجَ وَأَدْخُلَ مَعَهُ إِذَا دَخَلَ وَقَدِ احْتُبِسْتُ بِمَا تَرَى قَالَ تَقُولُ أُمُّ سُلَيْمٍ يَا أَبَا طَلْحَةَ مَا أَجِدُ الَّذِي كُنْتُ أَجِدُ انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا قَالَ وَضَرَبَهَا الْمَخَاضُ حِينَ قَدِمَا فَوَلَدَتْ غُلَامًا فَقَالَتْ لِي أُمِّي يَا أَنَسُ لَا يُرْضِعُهُ أَحَدٌ حَتَّى تَغْدُوَ بِهِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أَصْبَحَ احْتَمَلْتُهُ فَانْطَلَقْتُ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَصَادَفْتُهُ وَمَعَهُ مِيسَمٌ فَلَمَّا رَآنِي قَالَ لَعَلَّ أُمَّ سُلَيْمٍ

څيز ترے نه اوغواړی نو آیا دغه کورولاتے ترے منع کولے شی؟ ابوطلحهؓ اووے نه شی منع کولے. ام سلیمؓ لووے نو زۀ تاته ستا د خوئ په مرګ باندے خبر درکوم ددے خبرے په اوریدو ابوطلحهؓ غصه شو او اوئے وئیل تا زۀ نۀ خبرولم ترد ے پورے چه زۀ ککړ شوم (یعن جنب شوم) نو اوس د زۀ خبر کړم. حتی چه رسول الله ﷺ له لاړو او هغه ئے خبر کړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله پاك به تاسو له برکت درکړی په تاسو د تیرے شوے شپے په وجه وائی چه ام سلیم حامله شوه. رسول الله ﷺ په سفر لاړو او ام سلیمؓ (او خاوند ئے) هم ورسره وو. او حضرتؐ چه به هر کله په سفر تلو نو ام سلیمؓ به هم ورسرهٴوه. او حضرتؐ چه به هر کله د سفر نه مدینے ته راتلو نو د شپے به په مدینه کښں نۀ داخلیدو هر کله چه خلق مدینے ته نژدے شو نو ام سلیمؓ ته د زیږولو درد شروع شو. ابوطلحهؓ د هغے سره حصار شو او رسول الله ﷺ تشریف یوړو. وائی چه ابوطلحهؓ وئیل. اے پروردګاره تاته معلومه ده چه خما ستا د رسول الله ﷺ سره تلل خوښں دی. لیکن زۀ چه په څۀ وجه پاتے شوے یم هغه تاته معلومه ده. ام سلیمؓ اووے اے ابوطلحهؓ اوس خما داسے درد نشته دے لکه څنګه چه مخکښں وو نو څه چه خو مونږ روان شو هر کله چه ښځه خاوند مدینے ته راغلل نو بیا ام سلیمؓ ته د زیږولو درد شروع شو او هغے یو هلك اوزیږ وو. خما مور اووے اے انسه دۀ له څوك پئ ورنکړی د کومے پورے چه تا دۀ له د رسول الله ﷺ خواله ورونړے نۀ وی هر کله چه سحر شو نو ما بچے اوچت کړو او د رسول الله ﷺ خواله مے راوړو. ما چه اوکتل نو د حضرت ﷺ په لاس کښں اوښانو له د داغ ورکولو آله وه. حضرت ﷺ چه هر کله زۀ اولیدم نو اوئے فرمائیل کیدے شی ام سلیم

وَلَدَتْ قُلْتُ نَعَمْ فَوَضَعَ الْمِيسَمَ قَالَ وَجِئْتُ بِهِ فَوَضَعْتُهُ فِي حَجْرِهِ وَدَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَجْوَةٍ مِنْ عَجْوَةِ الْمَدِينَةِ فَلاَكَهَا فِي فِيهِ حَتَّى ذَابَتْ ثُمَّ قَذَفَهَا فِي فِي الصَّبِيِّ فَجَعَلَ الصَّبِيُّ يَتَلَمَّظُهَا قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْظُرُوا إِلَى حُبِّ الأَنْصَارِ التَّمْرَ قَالَ فَمَسَحَ وَجْهَهُ وَسَمَّاهُ عَبْدَ اللهِ

دا هلك زيږولے دے. ما اووے آو. حضرت ﷺ هغه آله د لاس مبارك نه كيښنوده. اوما ماشوم راوړو او د حضرت ﷺ په غيږه كښې مے كيښنوده. حضرت ﷺ عجوه كهجوره د مدينے رااوغوښته او په خپله خلهٔ مباركه كښې ئے اوژوئيله هر كله چه هغه كهجوره نرمه شوه نو د بچي په خلهٔ كښې ئے وركړه بچي د هغے رول شروع كړل. حضرت ﷺ اوفرمائيل اوګوره چه د انصارو د كهجورو سره څومره مينه ده. بيا حضرت ﷺ د هغهٔ په مخ باندے لاس رابنكودهٔ او د هغهٔ نوم ئے عبد الله كيښنودهٔ[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَاتَ ابْنٌ لأَبِي طَلْحَةَ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِمِثْلِهِ

انس بن مالك رضي الله عنه اووئيل چه د ابوطلحه يو څوئے مړ شو. بيائے د پورتنى حديث پشان بيان كړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبِلاَلٍ عِنْدَ صَلاَةِ الْغَدَاةِ يَا بِلاَلُ حَدِّثْنِي بِأَرْجَى عَمَلٍ عَمِلْتَهُ عِنْدَكَ فِي الإِسْلاَمِ مَنْفَعَةً فَإِنِّي سَمِعْتُ اللَّيْلَةَ خَشْفَ نَعْلَيْكَ بَيْنَ يَدَيَّ فِي الْجَنَّةِ قَالَ بِلاَلٌ مَا عَمِلْتُ عَمَلاً فِي الإِسْلاَمِ أَرْجَى عِنْدِي مَنْفَعَةً مِنْ أَنِّي لاَ أَتَطَهَّرُ طُهُورًا تَامًّا فِي سَاعَةٍ مِنْ لَيْلٍ وَلاَ نَهَارٍ إِلاَّ صَلَّيْتُ بِذَلِكَ الطُّهُورِ مَا كَتَبَ اللهُ لِي أَنْ أُصَلِّيَ

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ د سحر د مانځهٔ نه پس بلال رضي الله عنه ته اوفرمائيل. اے بلاله بيان كړ ما ته هغه عمل چه تا كړے دے په اسلام كښې چه د هغے د فائدے تاته زيات اُميد دے ولے چه ما نن شپه ستا د پيزار آواز اوريدو په جنت كښې. بلال اووے ما هيڅ يو عمل په اسلام كښې چه د هغے د نفع اُميد ډير وى دد ےنه زيات نهٔ دے كړے چه زهٔ هر كله پوره اودس اوكړم په هر وخت كښې كهٔ شپه وى يا ورځ نو په هغهٔ اودس سره مونځ كوم څومره چه الله عزوجل ځما په قسمت كښې ليكلے وى[2].

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ

باب : د عبد الله بن مسعود او د هغوى د مور

---

[1] دا حديث په كتاب الادب كښې تير شوے دے.

[2] نووى وائى دد ے حديث نه د اودس نه پس د مونځ كولو فضيلت وتلے دے او دا هم ثابته شوه چه تحية الوضوء سنت وى او دا مونځ په هر وخت كښې جائز دے. د نمر د راختو او د نمر د پريوتو او د غرمے په وخت هم او زمونږ مذهب هم دغه دے

مَسْعُودٍ وَأُمِّهِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا إِلَى آخِرِ الْآيَةِ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيلَ لِي أَنْتَ مِنْهُمْ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَدِمْتُ أَنَا وَأَخِي مِنَ الْيَمَنِ فَكُنَّا حِينًا وَمَا نُرَى ابْنَ مَسْعُودٍ وَأُمَّهُ إِلَّا مِنْ أَهْلِ بَيْتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ كَثْرَةِ دُخُولِهِمْ وَلُزُومِهِمْ لَهُ

عَنْ أَبِي مُوسَى يَقُولُ لَقَدْ قَدِمْتُ أَنَا وَأَخِي مِنَ الْيَمَنِ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أُرَى أَنَّ عَبْدَ اللهِ مِنْ أَهْلِ الْبَيْتِ أَوْ مَا ذَكَرَ مِنْ نَحْوِ هٰذَا

عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ قَالَ شَهِدْتُ أَبَا مُوسَى وَأَبَا مَسْعُودٍ حِينَ مَاتَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ أَتُرَاهُ تَرَكَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ فَقَالَ إِنْ قُلْتَ ذَاكَ إِنْ كَانَ لَيُؤْذَنُ لَهُ إِذَا حُجِبْنَا وَيَشْهَدُ إِذَا غِبْنَا

عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ قَالَ كُنَّا فِي دَارِ أَبِي مُوسَى مَعَ نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ عَبْدِ اللهِ وَهُمْ

رضی الله عنهما فضيلت

د عبد الله بن مسعود ؓ نه روايت دے وائي هر كله چه دا آيت نازل شو : نشته دے په هغه كسانو باندے چه ايمان راوړی او عمل نيك كوی گناه د هغه څۀ چه دۀ خوړلی وی. د اخره پورے. نو رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائيل تۀ د هغه خلقو نه ئے (يعنی د ايماندارو اونيك عملونه)

د ابوموسیٰ ؓ نه روايت دے وائی چه زۀ او زما رور دواړه د يمن نه راغلل نو د يوے زمانے پورے به مونږ عبد الله بن مسعود ؓ او د هغوی مور لره د رسول الله ﷺ د اهل بيتو نه گڼړلو د دے وجے نه چه هغه به د حضرت ﷺ خواله ډير تلو او د حضرت ﷺ سره به اوسيدۀ.

د ابوموسیٰ ؓ نه روايت دے چه زۀ او زما رور د يمن نه راغلو. د پورتنی روايت پشان بيان ئے اوكړو.

د ابوموسیٰ ؓ نه روايت دے چه زۀ د رسول الله ﷺ خواله راغلم او ما دا گڼړله چه عبد الله بن مسعود ؓ د اهل بيتو نه دے. يا دے ته نزدے نزدے څۀ اوفرمائيل

د ابوالاحوص نه روايت دے هر كله چه ابن مسعود ؓ وفات شو نو زۀ د ابوموسیٰ ؓ او ابومسعود ؓ سره وم يو بل ته اووے آيا تاته پته شته چه د عبد الله ؓ په مثل اوس څوك شته دے. دويم اووے تۀ دا وائے د هغوی خو دا حال وو چه مونږ به منع كړے شو او هغوی ته به اجازت وركړے شو. او مونږ به غائب اوسيدو او هغه به حاضر اوسيدو[1]

د ابوالاحوص نه روايت دے وائی چه مونږ د ابوموسیٰ ؓ په كور كښې وو او هلته د عبدالله بن مسعود ؓ څو ملگری وو او يو قرآن مجيد ئے

---

[1] يعنی په ژوند كښې هم څوك د هغۀ برابر رسول الله ﷺ ته نزدے نۀ وو. نو د وفات نه پس اوس څوك د هغوی پشان شی.

يَنْظُرُونَ فِي مُصْحَفٍ فَقَامَ عَبْدُ اللهِ فَقَالَ أَبُو مَسْعُودٍ مَا أَعْلَمُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَكَ بَعْدَهُ أَعْلَمَ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ مِنْ هٰذَا الْقَائِمِ فَقَالَ أَبُو مُوسَى أَمَا لَئِنْ قُلْتَ ذَاكَ لَقَدْ كَانَ يَشْهَدُ إِذَا غِبْنَا وَيُؤْذَنُ لَهُ إِذَا حُجِبْنَا

کتلو په دے کښې عبد الله پاځیدو. ابوسعید اووے نۀ پوهیږم چه رسول الله ﷺ د خپل ځان نه روستو په قران صحیح پوهیدونکے د دے سړی نه زیات څوک پریخودے وی دا چه ولاړ دے. ابوموسیٰ اووے کچرے تۀ داسے وائے (نو صحیح ده) د هغوی دا حال وو چه دے به حاضر ولاړ وو او مونږ به غائب وو او دوی ته به اجازت وو په هغه وخت کښې چه مونږ به منع شو.

عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ حُذَيْفَةَ وَأَبِي مُوسَى وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَحَدِيثُ قُطْبَةَ أَتَمُّ وَأَكْثَرُ

زید بن وهب ویلی چه زۀ د حذیفه او ابوموسیٰ خواته ناست وم. مخکښې ئے پوره حدیث بیان کړواو د قطبه (راوی) حدیث زیات مکمل دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّهُ قَالَ وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ قَالَ عَلَى قِرَاءَةِ مَنْ تَأْمُرُونِي أَنْ أَقْرَأَ فَلَقَدْ قَرَأْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضْعًا وَسَبْعِينَ سُورَةً وَلَقَدْ عَلِمَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّي أَعْلَمُهُمْ بِكِتَابِ اللهِ وَلَوْ أَعْلَمُ أَنَّ أَحَدًا أَعْلَمُ مِنِّي لَرَحَلْتُ إِلَيْهِ قَالَ شَقِيقٌ فَجَلَسْتُ فِي حَلَقِ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا يَرُدُّ ذٰلِكَ عَلَيْهِ وَلَا يَعِيبُهُ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے چه هغوی (خپلو یارانو ته) اووے (خپل قران پټ اوساتئ) او څوک چه پټ اوساتی څۀ شے هغه به راوړی هغے لره د قیامت په ورځ بیا به اووائی تا ماته د کوم سړی د قراءت پشان د قران د لوستلو حکم کړےوو د رسول الله ﷺ په مخکښې په اویاؤ باندے د پاسه خو سورتونه لوستلی دی. او د رسول الله ﷺ صحابو په دے پوهه دی چه زۀ د هغوی ټولو نه زیات د الله په کتاب پوهه یم او کچرے ماته معلومه وے چه بل څوک څما نه زیات د الله په کتاب پوهیږی نو زۀ به د هغهٔ خواله تلے وم. شقیق وائی زۀ د رسول الله ﷺ د صحابوؓ په مجلسونو کښې ناست یم ما د هیڅ یو صحابی نه نۀ دی اوریدلی چه هغه د عبد الله په دے خبره رد کړے وی یائے په هغه باندے عیب وئیلے وی[1]

[1] د عبد الله بن مسعودؓ په قران کښې په څنے مقاماتو کښې د جمهورو خلاف قرامت وو او د هغوی د ملګرو قران هم د هغوی د هغے پشان وو خلقو په دے خبره باندے انکار اوکړو او عبد الله ته ئے د جمهورو د هغے پشان د لوستلو حکم اوکړو. او طلب ئے کړو د هغه مصحف لره د سیزلو دپاره لیکن هغوی خپل مصحف ورنۀ کړو او خپلو ملګرو ته ئے هم اووے پټ کړئ: ځکه چه څوک څۀ پټوی هغه به د دے ایت په موجب په قیامت کښې راوستے شی نو تاسو به په قیامت کښې قران راخستے وی او رابه شئ: د دے نه زیات کوم شرف

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ وَالَّذِيْ لَا إِلٰهَ غَيْرُهٗ مَا مِنْ كِتَابِ اللهِ سُورَةٌ إِلَّا أَنَا أَعْلَمُ حَيْثُ نَزَلَتْ وَمَا مِنْ آيَةٍ إِلَّا أَنَا أَعْلَمُ فِيمَا أُنْزِلَتْ وَلَوْ أَعْلَمُ أَحَدًا هُوَ أَعْلَمُ بِكِتَابِ اللهِ مِنِّي تَبْلُغُهُ الْإِبِلُ لَرَكِبْتُ إِلَيْهِ

د عبد الله بن مسعود ؓ نه روايت دے هغوی وائی قسم دے په هغه ذات چه د هغۀ نه سوا نشته بل معبود نشته دے د الله په كتاب كښې يو داسے سورة مگر زۀ ښه پوهه يم په هغې باندے چه كوم ځائے نازل شوے دے. او يو آيت داسے نشته دے مگر زۀ پوهه يم په هغې باندے چه هغه په څۀ باب كښې نازل شوے دے. او كۀ چرے ما ته معلوم وے چه چرته يو كس د الله په كتاب باندے ښما نه زيات پوهه دے او د هغې پورے اوښ رسيدے شوے نو زۀ به سور شوے وم او د هغۀ خواله به تلے وم. (سبحان الله د دين د علم داسے شوق وو)

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ كُنَّا نَأْتِي عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو فَنَتَحَدَّثُ إِلَيْهِ وَقَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ عِنْدَهُ فَذَكَرْنَا يَوْمًا عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ فَقَالَ لَقَدْ ذَكَرْتُمْ رَجُلًا لَا أَزَالُ أُحِبُّهُ بَعْدَ شَيْءٍ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ خُذُوا الْقُرْآنَ مِنْ أَرْبَعَةٍ مِنِ ابْنِ أُمِّ عَبْدٍ فَبَدَأَ بِهِ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ وَسَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ

د مسروق نه روايت دے وائی چه مونږ به د عبد الله بن عمرو خواله تلو او د هغوی سره به مو خبرے كولے. يوه ورځ مونږ د عبد الله بن مسعود ؓ ذكر اوكړو. هغوی اووے تاسو د داسے سړے ذكر اوكړو چه د هغۀ سره ښما هم محبت دے. د كله نه چه ما يو حديث اوريدلے دے د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلی ئے وو تاسو قرآن ايزده كوئ د څلورو سړو نه. د ام عبد د خوئ نه (يعنی د عبد الله بن مسعود ؓ نه) رومبئ ئے د هغۀ نوم واخستو او د معاذ بن جبل ؓ نه او د أبی بن كعب ؓ نه او د سالم ؓ نه چه د حذيفه ؓ آزاد كړے غلام وو.

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو فَذَكَرْنَا حَدِيثًا عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ فَقَالَ إِنَّ ذَاكَ الرَّجُلَ لَا أَزَالُ أُحِبُّهُ بَعْدَ شَيْءٍ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَقُولُهُ سَمِعْتُهُ يَقُولُ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مِنْ أَرْبَعَةِ نَفَرٍ مِنِ ابْنِ أُمِّ

د مسروق نه روايت دے مونږ د عبد الله بن عمرو سره ناست وو نو مونږ د ابن مسعود نه مروی د يو حديث ذكر اوكړو نو عبد الله بن عمرو ؓ اووئيل چه دا دے سړی سره زۀ د هغه وخت نه محبت كوم هر كله چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل. هغه مې واوريدل چه حضرت ﷺ فرمائيل چه قرآن

دے دا دے حديث نه دا هم معلومه شوه چه انسان د خپل فضيلت او علم ذكر كولے شی په دے شرط چه د تكبر او فخر په وجه سره نۀ وی او ډيرو بزرگانو هم دغه شان كړی دی.

عَبدٍ فَبدأ بِهِ وَمِنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ وَمِنْ سَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ وَمِنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ وَحرف لَمْ يَذْكُرْهُ زُهَيْرٌ قَوْلُهُ يَقُولُهُ

د ځلورو كسانو نه ايزده كړئ ا بن عبد نه او د تولو نه مخكښې د هغهٔ نوم واخستهٔ او د ابى بن كعب نه او د سالم نه د ابو حذيفه غلام او د معاذ بن جبل نه.

عَنِ الأَعْمَشِ بِإِسْنَادِ جَرِيرٍ وَوَكِيعٍ فِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ عَنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ قَدَّمَ مُعَاذًا قَبْلَ أُبَيٍّ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي كُرَيْبٍ أُبَيٌّ قَبْلَ مُعَاذٍ

اعمش د جرير او وكيع په اسناد سره د ابوبكر په واسطه د ابومعاويه نه روايت كړے دے په دى كښې د أبي نه مخكښې د معاذ ذكر اوكړو او د ابو كريب په روايت كښې د أبي ذكر د معاذ نه مخكښې دے.

عَنِ الأَعْمَشِ بِإِسْنَادِهِمْ وَاخْتَلَفَا عَنْ شُعْبَةَ فِي تَنْسِيقِ الأَرْبَعَةِ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ ذَكَرُوا ابْنَ مَسْعُودٍ عِنْدَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو فَقَالَ ذَاكَ رَجُلٌ لاَ أَزَالُ أُحِبُّهُ بَعْدَ مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مِنْ أَرْبَعَةٍ مِنِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَسَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ

د اعمش نه د پورتنو راويانو په اسناد سره روايت دے. او شعبه چه د مسروق په ذريعه روايت كړے دے. ددے دوؤ راويانو ددے ځلورو په مخكښې روستو كيدو كښې اختلاف كړےدے. راوى اووئيل د عبد الله بن عمرو په خوا كښې د عبد الله بن مسعود ذكر اوشو نو هغوى اووے دا داسے سړے دے چه زهٔ د دوى سره د هغه وخت نه محبت كوم د كله نه چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه حضرت ﷺ فرمائيل. چه قرآن د ځلورو سړو نه ايزده كړئ . ابن مسعود ، سالم، ابي بن كعب او معاذ بن جبل رضى الله عنهم نه.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَزَادَ قَالَ شُعْبَةُ بَدَأَ بِهَذَيْنِ لاَ أَدْرِي بِأَيِّهِمَا بَدَأَ

د شعبه نه په دے اسناد سره روايت دے . او په دے كښې دا زياته ده چه شعبه اووئيل چه ما ته معلومه نه ده چه حضرت ﷺ په هغه ورځو كښې د چا نوم اول واخستهٔ

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ وَجَمَاعَةٍ مِنَ الأَنْصَارِ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمْ

باب : د أبيّ بن كعب او د انصارو رضى الله تعالىٰ عنهم د يو جماعت فضيلت

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ جَمَعَ الْقُرْآنَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ أَرْبَعَةٌ كُلُّهُمْ مِنَ الأَنْصَارِ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَأَبُو زَيْدٍ قَالَ قَتَادَةُ قُلْتُ لأَنَسٍ مَنْ

د انس نه روايت دے وائى چه قرآن د رسول الله ﷺ په زمانه مباركه كښې ځلورو سړو جمع كړےدے او هغه ځلور واړه انصار وو. معاذ بن جبل او أبي بن كعب او زيد بن ثابت او ابوزيد. قتادة وائى ما د انس نه تپوس اوكړو چه ابوزيد څوك دے؟ هغوى اووے خما د

أَبُو زَيْدٍ قَالَ أَحَدُ عُمُومَتِي

ترونو نه وو[1]

عَنْ قَتَادَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ مَنْ جَمَعَ الْقُرْآنَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعَةٌ كُلُّهُمْ مِنَ الْأَنْصَارِ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَرَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يُكْنَى أَبَا زَيْدٍ

د قتادهؒ نه روايت دے وائي چه ما انس بن مالكؓ ته اووے چا قران جمع كړے دے د رسول الله ﷺ په زمانه مباركه كښې. انس اووے د انصارو نه څلورو سړو ابي ابن كعب او معاذ ابن جبل او زيد بن ثابت او يو سړى د انصارو نه چه هغهٔ ته به ئے ابوزيد وئيلو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأُبَيٍّ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ قَالَ آللَّهُ سَمَّانِي لَكَ قَالَ اللَّهُ سَمَّاكَ لِي قَالَ فَجَعَلَ أُبَيٌّ يَبْكِي

د انس بن مالكؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ أبي بن كعب ته اووے. الله تعالى ما ته حكم كړے دے چه قران تا ته واوروم. أبيؓ اووے ولے الله تعالى تا ته څما نوم اخستے دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل آو. ستا نوم ئے اخستے دے. دد ے په اوريدو أبيؓ بن كعب په ژړا شو (د خوشحالئ نه يائے دا اوګڼرله چه دد ے نعمت د راكولو شكريه څما نه نهٔ شى كيد ے يائے خپله درجه اوليده او د رب كريم د عظمت خيال ئے اوكړو)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا قَالَ وَسَمَّانِي قَالَ نَعَمْ قَالَ فَبَكَى

د انس بن مالكؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ابي بن كعبؓ ته اوفرمائيل چه الله ما ته حكم كړے دے چه زهٔ ستا په مخكښې لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا اولولم هغوى اووے . آيا څما نوم الله فرمائيلے دے. حضرت ﷺ اوفرمائيل آو. انسؓ اووئيل. په دے أبي بن كعبؓ اوژړل

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيٍّ بِمِثْلِهِ

د انسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ابي بن كعب ته د پورتنى حديث پشان اوفرمايل

---

[1] نوويؒ وائي دد ے حديث نه څنې ملحدانو شبه كړے ده د قران په تواتر كښې حالانكه په دے كښې دا نشته چه سوا د دغه څلورو نه پكښې نور خلق شريك نه وو او مازري پنځلس صحابه نقل كړي دى چه هغه حافظ قران وو او په صحيح حديث كښې دى چه د يمامه په جنګ كښې د قران د جمع كونكو نه اويا سړي شهيدان شول او د يمامه جنګ د حضرت ﷺ وفات نه ترد ے واقع شوے وو نو څنګه ګمان كيد ے شى چه دا خلق به پكښې شريك نه وو او د څلورو خلفاؤ ذكر په دے روايت كښې نشته حالانكه د هغوى نه جمع كول د عقل نه لرے دى دد ے باؤجود چه هغه د نورو په نسبت حارصان وو په عبادت باند ے. او په خير باند ے. او كهٔ څوك او منى هم چه په جمع كولو كښې دغه څلور سړي شريك وو بيا هم په تواتر كښې خلل نهٔ پريوځي څكه چه اجزاء د قران په زرګونو خلقو ته ياد وو او د دغے وجے نه د قران مجموعه هم متواتر شوه. او په د ے كښې يو مسلمان يا ملحد خلاف نهٔ دے كړے. انتهى

باب مِنْ فَضَائِلِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَنَازَةُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ اهْتَزَّ لَهَا عَرْشُ الرَّحْمَنِ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمَنِ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم قَالَ وَجَنَازَتُهُ مَوْضُوعَةٌ يَعْنِي سَعْدًا اهْتَزَّ لَهَا عَرْشُ الرَّحْمَنِ

عَنِ الْبَرَاءِ يَقُولُ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةُ حَرِيرٍ فَجَعَلَ أَصْحَابُهُ يَلْمِسُونَهَا وَيَعْجَبُونَ مِنْ لِينِهَا فَقَالَ أَتَعْجَبُونَ مِنْ لِينِ هَذِهِ لَمَنَادِيلُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنْهَا وَأَلْيَنُ

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ يَقُولُ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِثَوْبِ حَرِيرٍ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ ثُمَّ قَالَ ابْنُ عَبْدَةَ أَخْبَرَنَا أَبُو دَاوُدَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنِي

باب: د سعد بن معاذ رضی الله عنه فضیلت

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل او د سعد بن معاذؓ جنازه مخے ته پرته وه چه ددهٔ په واسطه د پروردګار په عرش عظیم باندے زلزله راغله[1].

د جابرؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه د الله تعالی عرش اوخوزیدو د سعد بن معاذؓ په وفات سره.

د انس نه روایت دے چه نبیﷺ اوفرمائیل هرکله چه د سعد جنازه مخے ته ایخودے شوے وه چه د پروردګار عرش اورپیدهٔ.

د براء نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ ته یوه ریښمی جوړه په تحفه کښې راغله د حضرتﷺ صحابوؓ به هغه جوړه اغوستله او د هغے نرمئ ته به حیرانیدو. حضرتﷺ اوفرمائیل. تاسو ددے نرمئ ته حیرانیدئ، البته د سعد بن معاذ رومال په جنت کښې ددے نه غوره او ددے زیات نرم دے.

د براء بن عازبؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ له ریښمی کپړا راوړے شوه. پس بیان ئے کړو پوره حدیث بیا ابن عبده (راوی) اووے. مونږ ته خبر راکړے دے ابوداؤد هغوی ته شعبه چه ما قتاده حدیث بیان

---

[1] یعنی ددوی د راتلو د خوشحالئ نه او کیدے شي په عرش کښې تمیز او ادراک وی. ددے نه یو امر مانع نهٔ دے. اکثر فلاسفؤ په آسمانونو کښې نفوس ثابت کړی دی او دغه ظاهر حدیث دے او دغه مختار دے او خنو وئیلی دی چه عرش د هغوی په وفات سره او خوزیدو او عرش یو جسم دے د هغے خوزیدل جائز دی او خنے وائی چه مراد د اهل عرشو لرزیدل دی یعنی د ملائیکو چه هغوی د سعد په راتلو خوشحالی کوله. (انتهی مختصراً من النووی)

قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِنَحْوِ هٰذَا أَوْ بِمِثْلِهِ

کړو د انس بن مالك نه چه نبی ﷺ دے ته ترډے یا داسے څۀ اوفرمائیل.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ بِالْإِسْنَادَيْنِ جَمِيعًا كَرِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ

د شعبه نه دا حدیث په دواړو سندونو سره د ابوداؤد د روایت پشان دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ أُهْدِيَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُبَّةٌ مِنْ سُنْدُسٍ وَكَانَ يَنْهٰى عَنِ الْحَرِيرِ فَعَجِبَ النَّاسُ مِنْهَا فَقَالَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ مَنَادِيلَ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الْجَنَّةِ أَحْسَنُ مِنْ هٰذَا

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له د سندس یوه جبه په تحفه کښې راغله (سندس یوه ریښمی کپړه ده) حضرت ﷺ به منع فرمائیله د حریر نه خلق د هغې په لیدلو حیران شو (د هغې نرمۍ او خوبئ ته) حضرت ﷺ اوفرمائیل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه د محمد روح دے چه د سعد بن معاذ رومال په جنت کښې دد ے نه ښۀ دے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أُكَيْدِرَ دُومَةِ الْجَنْدَلِ أَهْدٰى لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةً فَذَكَرَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ وَكَانَ يَنْهٰى عَنِ الْحَرِيرِ

د انس نه روایت دے چه د اکیدر دومة الجندل بادشاه حضرت ﷺ له یو جوړه په تحفه کښې رااولیږله بیائے بیان اوکړو دد غې حدیث پشان په دے کښې دا نشته دے چه حضرت ﷺ به د حریر نه منع کوله

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي دُجَانَةَ سِمَاكِ بْنِ خَرَشَةَ

باب: د ابو دجانه سماك بن خرشه فضیلت

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ سَيْفًا يَوْمَ أُحُدٍ فَقَالَ مَنْ يَأْخُذُ مِنِّي هٰذَا فَبَسَطُوا أَيْدِيَهُمْ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ يَقُولُ أَنَا أَنَا قَالَ فَمَنْ يَأْخُذُهُ بِحَقِّهِ قَالَ فَأَحْجَمَ الْقَوْمُ فَقَالَ سِمَاكُ بْنُ خَرَشَةَ أَبُو دُجَانَةَ أَنَا آخُذُهُ بِحَقِّهِ قَالَ فَأَخَذَهُ فَفَلَقَ بِهِ هَامَ الْمُشْرِكِينَ

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د اُحُد په ورځ یوه توره واخسته او اوئے فرمائیل دا څوك اخلی ځما نه. خلقو لاسونه اوغزول هر یو وئیل چه زۀ ئے اخلم زۀ ئے اخلم حضرت ﷺ اوفرمائیل دد ے حق چه ادا کړی څوك به ئے واخلی. دد ے (خبرے) په اوریدو خلق په شا روستو شو (ځکه چه د اُحد په ورځ د کافرو غلبه وه) سماك بن خرشه ابودجانه اووے زۀ به دد ے حق ادا کوم او اخلم به ئے. بیا هغوی هغه واخسته او د مشرکانو سرونه ئے په هغه توره سره اوشلول.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَرَامٍ وَالِدُ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا

عَنْ جَابِرِ بْنِ يَقُولُ لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ جِيءَ بِأَبِي مُسَجًّى وَقَدْ مُثِلَ بِهِ قَالَ فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْفَعَ الثَّوْبَ فَنَهَانِي قَوْمِي ثُمَّ أَرَدْتُ أَنْ أَرْفَعَ الثَّوْبَ فَنَهَانِي قَوْمِي فَرَفَعَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ أَمَرَ بِهِ فَرُفِعَ فَسَمِعَ صَوْتَ بَاكِيَةٍ أَوْ صَائِحَةٍ فَقَالَ مَنْ هَذِهِ فَقَالُوا بِنْتُ عَمْرٍو أَوْ أُخْتُ عَمْرٍو فَقَالَ وَلِمَ تَبْكِي فَمَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رُفِعَ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ أُصِيبَ أَبِي يَوْمَ أُحُدٍ فَجَعَلْتُ أَكْشِفُ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ وَأَبْكِي وَجَعَلُوا يَنْهَوْنَنِي وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْهَانِي قَالَ وَجَعَلَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ عَمْرٍو تَبْكِيهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبْكِيهِ أَوْ لَا تَبْكِيهِ مَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رَفَعْتُمُوهُ

عَنْ جَابِرٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ غَيْرَ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ لَيْسَ فِي حَدِيثِهِ ذِكْرُ الْمَلَائِكَةِ وَبُكَاءُ الْبَاكِيَةِ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ جِيءَ بِأَبِي يَوْمَ أُحُدٍ

باب د جابر د پلار عبد الله بن عمرو بن حزام رضی الله تعالی عنهما فضیلت

د حضرت جابرؓ نه روایت دے هر کله چه د أحد ورځ اوشوه نو څما پلار راوړے شو چه یوه کپړه پرے غوړیدلی وه. او د هغه پوزه غوږونه اولاسونه خیے پرے کړے شوی وو (یعنی کافرانو هغه شهید کړے وو او مثله ئے ورله کړه وه) ما ترے کپړه اوچتول غوښتل نو خلقو زۀ منع کړم (په دے خیال سره چه خوئ به د پلار دا حال اووینی او غم به ئے زیات شی) رسول اللهﷺ هغه اوچت کړو یاد هغوی په حکم سره اوچت کړے شو. حضرتﷺ د یو ژړا کونکی یا چغے ویستونکی آواز واؤریدو. نو تپوس ئے اوکړو دا د چا آواز دے؟ خلقو عرض اوکړو چه د عمرو لور یا خور ده (یعنی د شهید خور یا ئے ترور ده) حضرتﷺ اوفرمائیل. ولے ژاړی؟ فرښتو په هغۀ باندے برابر سورے کړے دے تردے پورے چه هغه اوچت کړے شو.

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه وائی څما پلار شهید شو د أحد په ورځ. نو ما به د هغۀ د مخ نه کپړه اوچتوله او ژړل به مے او خلقو به زۀ منع کولم او رسول اللهﷺ نۀ منع کولم. او فاطمه د عمرو لور (یعنی څما ترور) هغه هم په هغۀ باندے ژړیدله. رسول اللهﷺ ورته اوفرمائیل کۀ تۀ ژاړے او کۀ نۀ ژاړے فرښتو په هغۀ باندے د خپلو وزرو سورے کړے وو تردے پورے چه تاسو هغۀ لره اوچت کړو.

د جابرؓ نه دا حدیث مروی دے مګر د ابن جریج (راوی) په حدیث کښں د ملائکه او د بل ژړا کونکی ذکر نشه

د جابرؓ نه روایت دے چه د غزوۀ أحد په ورځ څما والد صاحب ئے

مُجَدَّعًا فَوُضِعَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ

راوړو په دے حالت كښې چه د هغوى پوزه غوږونه پرے كړے شوى وو نو كيښودے شو د رسول الله ﷺ مخے ته الخ مخكښې د پورتنى پشان بيان دے.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ جُلَيْبِيبٍ ؓ

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي مَغْزًى لَهُ فَأَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْهِ فَقَالَ لِأَصْحَابِهِ هَلْ تَفْقِدُونَ مِنْ أَحَدٍ قَالُوا نَعَمْ فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا ثُمَّ قَالَ هَلْ تَفْقِدُونَ مِنْ أَحَدٍ قَالُوا نَعَمْ فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا ثُمَّ قَالَ هَلْ تَفْقِدُونَ مِنْ أَحَدٍ قَالُوا لَا قَالَ لَكِنِّي أَفْقِدُ جُلَيْبِيبًا فَاطْلُبُوهُ فَطُلِبَ فِي الْقَتْلَى فَوَجَدُوهُ إِلَى جَنْبِ سَبْعَةٍ قَدْ قَتَلَهُمْ ثُمَّ قَتَلُوهُ فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ قَتَلَ سَبْعَةً ثُمَّ قَتَلُوهُ هَذَا مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ هَذَا مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ قَالَ فَوَضَعَهُ عَلَى سَاعِدَيْهِ لَيْسَ لَهُ إِلَّا سَاعِدَا النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَحُفِرَ لَهُ وَوُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ غَسْلًا

باب : د جليبيب رضى الله عنه فضيلت

د ابوبرزه ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ په يو جهاد كي وو الله تعالى حضرت ته مال وركړو حضرت ﷺ خپلو خلقو ته اوفرمائيل ستاسو نه څوك ورك خو نۀ دے. خلقو عرض اوكړو آو. فلانے فلانے سړے ورك دے. بيا حضرت ﷺ تپوس اوكړو څوك ورك خو نۀ دے. خلقو عرض اوكړو آو. فلانے فلانے فلانے سړے ورك دے. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل څوك ورك خو نۀ دے. خلقو عرض اوكړو هيڅوك نۀ دے. حضرت اوفرمائيل زۀ جليبيب لره نۀ وينم. خلقو هغوى لره په مړو كښې تلاش كړو نو د هغوى لاش ئې د اووۀ لاشونو په خواه كښې اوموندو چه هغو لره جليبيب وژلى وو. هغۀ اووۀ ئې مړه كړل بيا په خپله شهيد شو. رسول الله ﷺ د هغوى خواله راغے او هلته اودريدو. بيائے اوفرمائيل دۀ اووۀ سړى وژلى دى روستو د هغے نه شهيد شوے دے. دے خما دے او زۀ ددۀ يم (يعنى زۀ او دے يو يو) بيا حضرت ﷺ هغه په خپلو دواړو لاسونو راواخستو او يواځے حضرت ﷺ اوچت كړو روستو د هغے نه قبر اوكنستے شو او په قبر كښې ئې كيښودو. او د غسل بيان راوى نۀ دے كړے.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ أَبُو ذَرٍّ خَرَجْنَا مِنْ قَوْمِنَا غِفَارٍ وَكَانُوا يُحِلُّونَ الشَّهْرَ الْحَرَامَ فَخَرَجْتُ أَنَا

باب : د ابوذر رضى الله تعالى عنه فضيلت

د عبد الله بن صامت ؓ نه روايت دے وائى چه ابوذر ؓ وئيلى دى چه مونږ د خپل قوم غفار نه راووتو هغوى به حرامے مياشتے ته هم حلاله وئيله نو زۀ او خما رور أنيس او زمونږ مور درے واړه راووتو او زمونږ يو ماما

واخِي أُنَيسٌ وَأُمُّنَا فنزلنا على خالٍ لنا فَأَكْرَمَنَا خَالُنَا وَأَحْسَنَ إِلَيْنَا فَحَسَدَنَا قَوْمُهُ فَقَالُوا إِنَّكَ إِذَا خَرَجْتَ عَنْ أَهْلِكَ خَالَفَ إِلَيْهِمْ أُنَيسٌ فَجَاءَ خَالُنَا فَنَثَا عَلَيْنَا الَّذِي قِيلَ لَهُ فَقُلْتُ أَمَّا مَا مَضَى مِنْ مَعْرُوفِكَ فَقَدْ كَدَّرْتَهُ وَلَا جِمَاعَ لَكَ فِيمَا بَعْدُ فَقَرَّبْنَا صِرْمَتَنَا فَاحْتَمَلْنَا عليها وتغطى خالنا ثوبه فجعل يبكي فَانْطَلَقْنَا حَتَّى نَزَلْنَا بِحَضْرَةِ مَكَّةَ فَنَافَرَ أُنَيسٌ عَنْ صِرْمَتِنَا وَعَنْ مِثْلِهَا فَأَتَيَا الْكَاهِنَ فَخَيَّرَ أُنَيسًا فَأَتَانَا أُنَيسٌ بِصِرْمَتِنَا وَمِثْلِهَا مَعَهَا قَالَ وَقَدْ صَلَّيْتُ يَا ابْنَ أَخِي قَبْلَ أَنْ أَلْقَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَلَاثِ سِنِينَ قُلْتُ لِمَنْ قَالَ لِلَّهِ قُلْتُ فَأَيْنَ تَوَجَّهُ قَالَ أَتَوَجَّهُ حَيْثُ يُوَجِّهُنِي رَبِّي أُصَلِّي عِشَاءً حَتَّى إِذَا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ أُلْقِيتُ كَأَنِّي خِفَاءٌ حَتَّى تَعْلُوَنِي الشَّمْسُ فَقَالَ أُنَيسٌ إِنَّ لِي حَاجَةً بِمَكَّةَ فَاكْفِنِي فَانْطَلَقَ أُنَيسٌ حَتَّى أَتَى مَكَّةَ فَرَاثَ عَلَيَّ ثُمَّ جَاءَ فَقُلْتُ مَا صَنَعْتَ قَالَ لَقِيتُ رَجُلًا بِمَكَّةَ عَلَى دِينِكَ يَزْعُمُ أَنَّ اللهَ أَرْسَلَهُ قُلْتُ فَمَا يَقُولُ النَّاسُ قَالَ

وو دهغهٔ سره کوز شو. هغه زمونږ خاطر داری او زمونږ سره ئے نیکی او کړه. د هغهٔ قوم زمونږ سره حسد او کړو او اوئے وئیل (زمونږ ماما ته) هر کله چه ته د خپل کور نه اوځے نو اُنیس ستا د بی بی سره زنا کوی هغه زمونږ خواله راغے او دا خبره ئے مشهوره کړه (د حماقت نه) ما اووے تا چه زمونږ سره کوم احسان کړے وو هغه هم خراب شو اوس مونږ ستا سره نهٔ شو پاتے کیدے. آخر مونږ د خپلو اوښانو خواله لاړو او خپل اسباب مو بار کړلو. خما ماما کپړه واغوسته او ژړائے شروع کړه مونږ روان شو تردے پورے چه د مکے مخے ته کوز شو. اُنیس یو شرط اولګوؤ په دومره اوښانو باندے چه زمونږ سره وو او په دومره نورو باندے بیا دواړه د نجومی خواله لاړل نجومی اُنیس ته اووے چه دے بری دے. اُنیس زمونږ اوښان راوستو او دومره ئے نور راوستل. ابوذر اووے اے خما د رور بچیه ما د رسول الله ﷺ د ملاقات نه مخکښ درے کاله مونځ کړے دے. ما اووے د چا دپاره مو کړے. ابوذر رض اووے د الله تعالی دپاره. ما اووے مخ به د کوم طرفته وو هغوی اووے مخ به مے هغه طرفته کولو کوم طرفته چه به الله تعالی خما مخ کولو د ماسختن مونځ مو کولو هر کله چه به آخره شپه شوه نو د کمبل په شان به مو کولو تردے پورې چه نمر زمونږ دپاسه راغے اُنیس اووے خما په مکه کښ کار دے ته دلته پاتے شه زهٔ ځم هغه لاړو او دیر وخت پس بیا راغے. ما اووے تا څهٔ اوکړل. هغهٔ اووے زهٔ د یو سړی سره په مکه کښ میلاؤ شوم چه هغه ستا په دین باندے دے او هغه وائی چه الله تعالی هغهٔ لره رالیږلے دے. ما اووے خلق هغهٔ ته څهٔ وائی. هغهٔ اووے خلق هغهٔ ته شاعر کاهن او جادوګر وائی. او اُنیس پخپله هم شاعر وو. هغهٔ اووے ما د کاهنانو خبره اوریدلے ده. لیکن کوم کلام چه دا

يَقُولُونَ شَاعِرٌ كَاهِنٌ سَاحِرٌ وَكَانَ أُنَيْسٌ أَحَدَ الشُّعَرَاءِ قَالَ أُنَيْسٌ لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْكَهَنَةِ فَمَا هُوَ بِقَوْلِهِمْ وَلَقَدْ وَضَعْتُ قَوْلَهُ عَلَى أَقْرَاءِ الشِّعْرِ فَمَا يَلْتَئِمُ عَلَى لِسَانِ أَحَدٍ بَعْدِي أَنَّهُ شِعْرٌ وَاللهِ إِنَّهُ لَصَادِقٌ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ قَالَ قُلْتُ فَاكْفِنِي حَتَّى أَذْهَبَ فَأَنْظُرَ قَالَ فَأَتَيْتُ مَكَّةَ فَتَضَعَّفْتُ رَجُلًا مِنْهُمْ فَقُلْتُ أَيْنَ هَذَا الَّذِي تَدْعُونَهُ الصَّابِئَ فَأَشَارَ إِلَيَّ فَقَالَ الصَّابِئَ فَمَالَ عَلَيَّ أَهْلُ الْوَادِي بِكُلِّ مَدَرَةٍ وَعَظْمٍ حَتَّى خَرَرْتُ مَغْشِيًّا عَلَيَّ قَالَ فَارْتَفَعْتُ حِينَ ارْتَفَعْتُ كَأَنِّي نُصُبٌ أَحْمَرُ قَالَ فَأَتَيْتُ زَمْزَمَ فَغَسَلْتُ عَنِّي الدِّمَاءَ وَشَرِبْتُ مِنْ مَائِهَا وَلَقَدْ لَبِثْتُ يَا ابْنَ أَخِي ثَلَاثِينَ بَيْنَ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ مَا كَانَ لِي طَعَامٌ إِلَّا مَاءُ زَمْزَمَ فَسَمِنْتُ حَتَّى تَكَسَّرَتْ عُكَنُ بَطْنِي وَمَا وَجَدْتُ عَلَى كَبِدِي سُخْفَةَ جُوعٍ قَالَ فَبَيْنَا أَهْلُ مَكَّةَ فِي لَيْلَةٍ قَمْرَاءَ إِضْحِيَانَ إِذْ ضُرِبَ عَلَى أَسْمِخَتِهِمْ فَمَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ أَحَدٌ وَامْرَأَتَيْنِ مِنْهُمْ تَدْعُوَانِ إِسَافًا وَنَائِلَةَ قَالَ فَأَتَتَا عَلَيَّ فِي طَوَافِهِمَا فَقُلْتُ أَنْكِحَا أَحَدَهُمَا

سړے وائي هغه د کاهنانو کلام نۀ دےاو ما د هغۀ کلام د شعر په تولوبحرونو باندےکیښودو نوهغه په یوه حبّه باندے خما نه پس سمون نۀ خوري د شعر پشان په الله قسم دے چه هغه رښتونے دے او خلق دروغجن دي. ما اووے تۀ دلته پاتے شه زۀ خم چه هغه سړےاووینم. بیا زۀ مکے ته راغلم او یو کمزورے سړے مے د مکے د خلقو نه اولیدو (څکه چه طاقتور سړے کیدے شي ما ته تکلیف رااورسوي) او د هغۀ نه مے تپوس اوکړو چه هغه سړےکوم خائے دےکوم ته چه تاسو صابي وایئ؟ (یعني دین بدلولو والا. د عربو کفارو به معاذ الله رسول الله ﷺ ته صابي ونیلو) هغه خما په طرف اشاره اوکړه او اوئےوئیل دا صابي دے (څکه چه د صابي تپوس کوي) دد ے په اوریدو تولے وادئ والا خلقو لوټےاو هډوکي رااوخستل او په ما باندے ئےراغلل تردے پورے چه زۀ بیهوشه رااوغورځیدم. هر کله چه زۀ په هوش کښې راغلم او پاڅیدم نو څۀ ګورم چه یو سور بُت وم (یعني د سَر نه د خپو پورے په وینو سوروم) بیا زۀ د زم زم خواله راغلم او توله وینه مےوینځله او د زم زم اوبۀ مے اوڅښلے. نو اے خما ورارۀ زۀ هلته دیرش شپے یا دیرش ورځے پاتے شوم او څۀ خوراك خما سره نۀوو سوا د زم زم د اوبو نه (زۀ چه به هر کله چه تږےشوم نو دغه اوبۀ به مے اوڅښلے) بیا زۀ بښۀ څورب شوم تردے پورے چه خما د ګیډے تیونه رابښکته شو (د څورب والي نه) او ما پخپله اینه کښې د لوږے کمزوري نۀ موندله یو خل مکے والاد سپوږمۍ په شپو کښې اوده شول دغه وخت د بیت الله طواف هیچا نۀ کولو. صرف دوو ښځو اساف او نائله ته چغے وهلے (اُساف او نائله دوه بتان وو په مکه کښې اُساف سړے وو او نائله ښځه وه د کفارو دا اعتقاد وو چه دے دوارو دغلته زنا کړے وه په دي

الْأُخْرَى قَالَ فَمَا تَنَاهَتَا عَنْ قَوْلِهِمَا قَالَ فَأَتَتَا عَلَيَّ فَقُلْتُ هَنٌ مِثْلُ الْخَشَبَةِ غَيْرَ أَنِّي لَا أَكْنِي فَانْطَلَقَتَا تُوَلْوِلَانِ وَتَقُولَانِ لَوْ كَانَ هَاهُنَا أَحَدٌ مِنْ أَنْفَارِنَا قَالَ فَاسْتَقْبَلَهُمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَهُمَا هَابِطَانِ قَالَ مَا لَكُمَا قَالَتَا الصَّابِئُ بَيْنَ الْكَعْبَةِ وَأَسْتَارِهَا قَالَ مَا قَالَ لَكُمَا قَالَتَا إِنَّهُ قَالَ لَنَا كَلِمَةً تَمْلَأُ الْفَمَ وَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى اسْتَلَمَ الْحَجَرَ وَطَافَ بِالْبَيْتِ هُوَ وَصَاحِبُهُ ثُمَّ صَلَّى فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ قَالَ أَبُو ذَرٍّ فَكُنْتُ أَنَا أَوَّلَ مَنْ حَيَّاهُ بِتَحِيَّةِ الْإِسْلَامِ قَالَ فَقُلْتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ ثُمَّ قَالَ مَنْ أَنْتَ قَالَ قُلْتُ مِنْ غِفَارٍ قَالَ فَأَهْوَى بِيَدِهِ فَوَضَعَ أَصَابِعَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ فَقُلْتُ فِي نَفْسِي كَرِهَ أَنِ انْتَمَيْتُ إِلَى غِفَارٍ فَذَهَبْتُ آخُذُ بِيَدِهِ فَقَدَعَنِي صَاحِبُهُ وَكَانَ أَعْلَمَ بِهِ مِنِّي ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ قَالَ مَتَى كُنْتَ هَاهُنَا قَالَ قُلْتُ قَدْ كُنْتُ هَاهُنَا مُنْذُ ثَلَاثِينَ بَيْنَ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ قَالَ فَمَنْ كَانَ يُطْعِمُكَ قَالَ قُلْتُ مَا كَانَ

وجه سره مسخ شوی او بتان شوی وو) هغوی طواف کوو کوو خما مخې له راغلې ما ورته اووے دد ے يو نکاح د بل سره اوکړئ (يعنی د اساف د نائيله سره) دد ے په اوريدو هم هغه د خپلې خبرے نه قلار نۀ شوے. بيا ورته ما صفا اووے ددوی په فلانی کښ لرگے (يعنی دا فحش د أساف او نائله د عبادت د وجې نه) او ماله کنايه نۀ راتله (يعنی په کنايه اشاره کښ ما کنځل او نۀ کړل ښکاره په ښکاره مے اوکړل أساف او نائله ته او هغه دواړو مردود ښځو ته د غصه راوستو دپاره چه دالله تعالی په کور کښ الله پريږدی او أساف او نائيله ته آواز کوی دد ے په اوريدو هغه دواړه ښځے په چغو او وينا کولو سره روانے شوے چه افسوس اوس زمونږ د خلقو نه څوک وے (چه دے سړی له ئے د بے ادبئ سزا ورکړے وے) په لاره کښ هغه ښځو ته رسول الله ﷺ او ابوبکر صديق ؓ ميلاؤ شو او هغوی راکوزيدلو د غر نه هغوی هغه ښځو ته اووے څۀ اوشو؟ هغوی اووے يو صابی راغلے دے چه د کعبے په پردو کښ پټ شوے دے. هغوی اووے هغه صابی څۀ وائی؟ هغوی ښځو اووے هغه داسے خبره اوکړه چه په هغې سره خلۀ ډکيږی (يعنی هغه په ژبه وئيلے کيدے نۀ شی) او رسول الله ﷺ تشريف راوړو ترد ے پورے چه حجر اسود ئے ښکل کړو او طواف ئے اوکړو د خپل ملگری سره بيائے مونځ اوکړو هر کله چه ئے مونځ اوکړو نو ابوذر ؓ وائی ما د هر چا نه اول د اسلام سنت ادا کړو او اومے وئيل السلام عليك يا رسول الله ﷺ! حضرت ﷺ اوفرمائيل وعليك السلام ورحمة الله. بيا حضرت ﷺ تپوس اوکړو چه ته څوک ئے؟ ما اووے د غفار يو سړے يم حضرت ﷺ خپل لاسونه مبارك راکاږۀ کړل او خپلے گوتے ئے په تندی کيښودے (لکه چه څوک ذکر کوی) ما په زړۀ کښ اووے چه کيدے

لِي طَعَامٌ إِلاَّ مَاءُ زَمْزَمَ فَسَمِنْتُ حَتَّى تَكَسَّرَتْ عُكَنُ بَطْنِي وَمَا أَجِدُ عَلَى كَبِدِي سُخْفَةَ جُوعٍ قَالَ إِنَّهَا مُبَارَكَةٌ إِنَّهَا طَعَامُ طُعْمٍ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ ائْذَنْ لِي فِي طَعَامِهِ اللَّيْلَةَ فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَانْطَلَقْتُ مَعَهُمَا فَفَتَحَ أَبُو بَكْرٍ بَابًا فَجَعَلَ يَقْبِضُ لَنَا مِنْ زَبِيبِ الطَّائِفِ وَكَانَ ذَلِكَ أَوَّلَ طَعَامٍ أَكَلْتُهُ بِهَا ثُمَّ غَبَرْتُ مَا غَبَرْتُ ثُمَّ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ وُجِّهَتْ لِي أَرْضٌ ذَاتُ نَخْلٍ لاَ أُرَاهَا إِلاَّ يَثْرِبَ فَهَلْ أَنْتَ مُبَلِّغٌ عَنِّي قَوْمَكَ عَسَى اللهُ أَنْ يَنْفَعَهُمْ بِكَ وَيَأْجُرَكَ فِيهِمْ فَأَتَيْتُ أُنَيْسًا فَقَالَ مَا صَنَعْتَ قُلْتُ صَنَعْتُ أَنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ وَصَدَّقْتُ قَالَ مَا بِي رَغْبَةٌ عَنْ دِينِكَ فَإِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ وَصَدَّقْتُ فَأَتَيْنَا أُمَّنَا فَقَالَتْ مَا بِي رَغْبَةٌ عَنْ دِينِكُمَا فَإِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ وَصَدَّقْتُ فَاحْتَمَلْنَا حَتَّى أَتَيْنَا قَوْمَنَا غِفَارًا فَأَسْلَمَ نِصْفُهُمْ وَكَانَ يَؤُمُّهُمْ أَيْمَاءُ بْنُ رَحَضَةَ الْغِفَارِيُّ وَكَانَ سَيِّدَهُمْ وَقَالَ نِصْفُهُمْ إِذَا قَدِمَ رَسُولُ

شی حضرت ﷺ ته بده معلومه شوه خما دا خبره چه زهٔ غفار نه یم ما ورمنده کړه د حضرت ﷺ د لاسونو مبارکو د نیولو دپاره. لیکن د حضرت ﷺ ملګری (ابوبکر رض) چه خما نه زیات د حضرت ﷺ په حال پوهه وو زهٔ منع کړم. بیا حضرت ﷺ سره اوچت کړو او ونې فرمائیل ته دلته کله راغلے ئې؟ (ددے نه معلومه شوه چه پیغمبر ته علم غیب نهٔ وو ورنه دغلته د راتلو تپوس به ئې نهٔ کوو) ما اووے زهٔ خو دلته د دیرشو شپو یا ورځو نه یم. حضرت ﷺ اوفرمائیل تاله غله څوك راوړی. ما اووے خوراك وغیره هیڅ نشته سوا د زمزم د اُوبو نه تردے پورے چه زهٔ ئې بنهٔ څورب کړم او ګیډے ته مے تیونه اوکړل او زهٔ پخپله اینه کښ د لوږے کمزوری نهٔ مومم. حضرت ﷺ اوفرمائیل د زمزم اوبهٔ برکت والا دی او خوراك هم دے د طعام پشان ګیډه ډکوی. ابوبکر رض اووے یا رسول الله ﷺ! نن شپه اجازت راکړه چه په دهٔ باندے طعام اوخوروم. بیا رسول الله ﷺ او ابوبکر رض لاړل او زهٔ د ورسره لاړم. ابوبکر رض یوه دروازه کهولاؤ کړه او د هغے نه ئې د طائف اوچ انګور راوویستل. دا رومبے خوراك وو. بیا هلته وم زهٔ د کومے پورې چه وم. پس د هغے نه د رسول الله ﷺ خواله راغلم حضرت ﷺ اوفرمائیل ما ته یوه زمکه اوښودے شوه کهجورو والا چه هغه بله یوه زمکه نهٔ ده د یثرب نه (دا د مدینے طیبے نوم وو) نو تهٔ خما د طرفنه خپل قوم ته د دین دعوت ورکړه. کیدے شی الله تعالی ستا په وجه هغوی ته نفع ورکړی. او تا ته ثواب درکړی. بیا زهٔ د اُنیس خواله راغلم هغهٔ تپوس اوکړو چه تا څهٔ اوکړو؟ ما اووے اسلام مے راوړو او د حضرت ﷺ د نبوت تصدیق مے اوکړو. هغهٔ اووے ستاسو د دین نه خما هم نفرت نهٔ دے. ما هم اسلام راوړو او تصدیق د حضرت ﷺ د نبوت مے اوکړو بیا مونږ په اوښانو باندے اسباب بار

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَسْلَمْنَا فَقَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم الْمَدِينَةَ فَأَسْلَمَ نِصْفُهُمُ الْبَاقِي وَجَاءَتْ أَسْلَمُ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِخْوَتُنَا نُسْلِمُ عَلَى الَّذِي أَسْلَمُوا عَلَيْهِ فَأَسْلَمُوا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِفَارُ غَفَرَ اللهُ لَهَا وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ

کړل تردے پورے چه خپل قوم غفار ته اورسیدو. نیم قوم مسلمانان شو او د هغوی امام ایماء بن رحضه غفاری وو. هغه د هغوی سردار هم وو. او نیم قوم دا اووے چه هر کله رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړے نو مونږ به مسلمانیږو. بیا رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړو او نیم قوم چه کوم پاتے وو هغوی هم مسلمانان شو او د اسلم خلق راغلل هغوی اووے یا رسول الله! مونږ هم د خپلو غفاریانو رونړو پشان مسلمانیږو. هغوی هم مسلمانان شو. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل غفار لره الله اوبخښل او اسلم لره الله بچ کړل د قتل او قید نه.[1]

عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ قُلْتُ فَاكْفِنِي حَتَّى أَذْهَبَ فَأَنْظُرَ قَالَ نَعَمْ وَكُنْ عَلَى حَذَرٍ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ فَإِنَّهُمْ قَدْ شَنِفُوا لَهُ وَتَجَهَّمُوا

د حمید بن هلال نه په دے اسناد سره روایت دے. او په دے کښې دا زیاته ده چه بنه ده خه لیکن د اهل مکه نه هوښیار اوسه، هغه دشمنان دی د هغه سړی. او بهانے جوړوی د هغهٔ په باره کښې.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ أَبُو ذَرٍّ يَا ابْنَ أَخِي صَلَّيْتُ سَنَتَيْنِ قَبْلَ مَبْعَثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ فَأَيْنَ كُنْتَ تَوَجَّهُ قَالَ حَيْثُ وَجَّهَنِيَ اللهُ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ فَتَنَافَرَا إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْكُهَّانِ قَالَ فَلَمْ يَزَلْ أَخِي أُنَيْسٌ يَمْدَحُهُ حَتَّى غَلَبَهُ قَالَ فَأَخَذْنَا صِرْمَتَهُ فَضَمَمْنَاهَا إِلَى صِرْمَتِنَا وَقَالَ أَيْضًا فِي حَدِيثِهِ قَالَ فَجَاءَ النَّبِيُّ ﷺ فَطَافَ بِالْبَيْتِ

د عبد الله بن صامت نه روایت دے چه ابوذر وئیلی دی چه اے خما ورارهٔ ما د حضرت ﷺ د پیغمبرئ نه مخکښې دوه کاله مخکښې مونځ کولو. ما اووے چه تاسو کوم طرفته مخ کولو او مونځ مو کولو نو هغوی اووے کوم طرفته به چه الله تعالی خما مخ اړولو. بیانے د سلیمان بن مغیره د حدیث پشان پوره واقعه بیان کړه. او په دے حدیث کښې دی چه هغه دواړه د یو کاهن خواله لاړل. أنیس د هغه کاهن صفت شروع کړو تردے پورے چه په هغهٔ غالب راغے او مونږ د هغهٔ اوښان هم د خپلو اوښانو سره میلاؤ کړل او دا هم په دے حدیث کښې دی چه مونږ اوکړو حضرت ﷺ په مقام ابراهیم

[1] أنیس یو شرط اولګوو هغه دا شرط وو چه دوه سړی دعوه اوکړی هر یو دا وائی چه زهٔ غوره یم بیا چه چا ته نجومی اووائی چه دا غوره دے هغه به د شرط مال اخلی دغه شان شرط أنیسؓ د چا سره لګولے وو. او مال دا مقرر شو چه د أنیس سره څومره اوښان دی هغه د ورکړی او دومره نور

وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَلْفَ الْمَقَامِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَإِنِّي لَأَوَّلُ النَّاسِ حَيَّاهُ بِتَحِيَّةِ الْإِسْلَامِ قَالَ قُلْتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ مَنْ أَنْتَ وَفِي حَدِيثِهِ أَيْضًا فَقَالَ مُنْذُ كَمْ أَنْتَ هَاهُنَا قَالَ قُلْتُ مُنْذُ خَمْسَ عَشْرَةَ وَفِيهِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَتْحِفْنِي بِضِيَافَتِهِ اللَّيْلَةَ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا بَلَغَ أَبَا ذَرٍّ مَبْعَثُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ قَالَ لِأَخِيهِ ارْكَبْ إِلَى هَذَا الْوَادِي فَاعْلَمْ لِي عِلْمَ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ يَأْتِيهِ الْخَبَرُ مِنَ السَّمَاءِ فَاسْمَعْ مِنْ قَوْلِهِ ثُمَّ ائْتِنِي فَانْطَلَقَ الْآخَرُ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ وَسَمِعَ مِنْ قَوْلِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى أَبِي ذَرٍّ فَقَالَ رَأَيْتُهُ يَأْمُرُ بِمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ وَكَلَامًا مَا هُوَ بِالشِّعْرِ فَقَالَ مَا شَفَيْتَنِي فِيمَا أَرَدْتُ فَتَزَوَّدَ وَحَمَلَ شَنَّةً لَهُ فِيهَا مَاءٌ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ فَأَتَى الْمَسْجِدَ فَالْتَمَسَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا يَعْرِفُهُ وَكَرِهَ أَنْ يَسْأَلَ عَنْهُ حَتَّى أَدْرَكَهُ يَعْنِي اللَّيْلَ فَاضْطَجَعَ فَرَآهُ عَلِيٌّ فَعَرَفَ أَنَّهُ غَرِيبٌ فَلَمَّا رَآهُ تَبِعَهُ فَلَمْ يَسْأَلْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أَصْبَحَ ثُمَّ احْتَمَلَ قِرْبَتَهُ وَزَادَهُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَظَلَّ ذَلِكَ الْيَوْمَ وَلَا يَرَى

شاته دوه رکعته او زهٔ د تولو نه اولنے سړے يم چا چه حضرت ﷺ ته د مسلمانئ سلام اوکړو او اومے ونيل السلام عليكم يا رسول الله نو حضرت ﷺ اوفرمائيل وعليكم السلام او ته څوك ئے او په حديث کښې دا هم دی چه حضرت ﷺ اوفرمائيل ته د کوم وخت نه دلته يے نو ما اووے د پنځلسو ورځونه او په دے کښې دی چه ابوبکر رضی الله عنه اووئيل چه ما له عزت راکړه د دوی د ميلمستيا نن شپه

د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روايت دے وائی هر کله چه ابوذر رضی الله عنه ته د رسول الله ﷺ د نبوت خبر په مکه کښې اورسيدو نو هغوی خپل رور ته اووے چه په سورلئ سور شه او لاړ شه هغه سړے اووينه کوم چه وائی چه ما ته د آسمان نه خبر راځی د هغهٔ خبرے واوره. بيا خما خواله راشه. هغه روان شو تردے پورے مکے ته راغے او د حضرت ﷺ کلام ئے واوريدهٔ او بيا د ابوذر رضی الله عنه خواله لاړو او ورته ئے اووے ما هغه سړے اوليدو هغه دښه خصلتونو حکم کوی او يو قسم کلام اوره وی چه هغه شعر نهٔ دے ابوذر رضی الله عنه اووے په دے سره خما تسکين رانغے. بيا هغوی توشه واخسته او يو مشك ئے واخستو د اوبو تردے پوری چه مکے ته راغے او په مسجد حرام کښې داخل شو هلته ئے رسول الله ﷺ لټولو خو حضرت ﷺ ئے پيژندو نه او تپوس کول ئے هم مناسب نهٔ ګڼړل تردے پورے چه شپه شوه هغه سملاستهٔ. حضرت علی رضی الله عنه هغه اوليدو او اوئے پيژندو چه څوك مسافر دے. بيا په هغوی پسے شاته لاړو ليکن هيڅ يو د بل سره خبرے او نهٔ کړے تردے پورے چه سحر شو بيا هغه ~~خپله توبنه~~ او مشك جماعت ته دننه راوړو او ټول ورځ ئے هلته تيره کړه او رسول الله ﷺ ئے اونهٔ ليدو د ماښام پورے. بيا هغه د خپلو اوده کيدو ځائے

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَرَامٍ وَالِدِ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا

عَنْ جَابِرِ بْنِ يَقُولُ لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ جِيءَ بِأَبِي مُسَجًّى وَقَدْ مُثِلَ بِهِ قَالَ فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْفَعَ الثَّوْبَ فَنَهَانِي قَوْمِي ثُمَّ أَرَدْتُ أَنْ أَرْفَعَ الثَّوْبَ فَنَهَانِي قَوْمِي فَرَفَعَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ أَمَرَ بِهِ فَرُفِعَ فَسَمِعَ صَوْتَ بَاكِيَةٍ أَوْ صَائِحَةٍ فَقَالَ مَنْ هٰذِهِ فَقَالُوا بِنْتُ عَمْرٍو أَوْ أُخْتُ عَمْرٍو فَقَالَ وَلِمَ تَبْكِي فَمَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رُفِعَ

باب د جابر د پلار عبد الله بن عمرو بن حزام رضی الله تعالی عنهما فضیلت

د حضرت جابرؓ نه روایت دے هر کله چه د أحد ورځ اوشوه نو ځما پلار راوړے شو چه یوه کپړه پرے غوړیدلی وه. او د هغهٔ پوزه غوږونه اولاسونه خیے پرے کړے شوی وو (یعنی کافرانو هغه شهید کړے وو او مثله ئے ورله کړه وه) ما ترے کپړه اوچتول غوښتل نو خلقو زهٔ منع کړم (په دے خیال سره چه خوئ به د پلار دا حال اووینی او غم به ئے زیات شی) رسول الله ﷺ هغه اوچت کړو یاد هغوی په حکم سره اوچت کړے شو. حضرت ﷺ د یو ژړا کونکی یا چغے ویستونکی آواز واؤریدو. نو تپوس ئے اوکړو دا د چا آواز دے؟ خلقو عرض اوکړو چه د عمرو لور یا خور ده (یعنی د شهید خور یا ئے ترور ده) حضرت ﷺ اوفرمائیل. ولے ژاړی؟ فرښتو په هغهٔ باندے برابر سورے کړے دے تردے پورے چه هغه اوچت کړے شو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ أُصِيبَ أَبِي يَوْمَ أُحُدٍ فَجَعَلْتُ أَكْشِفُ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ وَأَبْكِي وَجَعَلُوا يَنْهَوْنَنِي وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْهَانِي قَالَ وَجَعَلَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ عَمْرٍو تَبْكِيهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبْكِيهِ أَوْ لَا تَبْكِيهِ مَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رَفَعْتُمُوهُ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه وائی ځما پلار شهید شو د أحد په ورځ. نو ما به د هغهٔ د مخ نه کپړه اوچتوله او ژړل به مے او خلقو به زهٔ منع کولم او رسول الله ﷺ نهٔ منع کولم. او فاطمه د عمرو لور (یعنی ځما ترور) هغه هم په هغهٔ باندے ژړیدله. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل کهٔ ته ژاړے او کهٔ نهٔ ژاړے فرښتو په هغهٔ باندے د خپلو وزرو سورے کړے وو تردے پورے چه تاسو هغهٔ لره اوچت کړو.

عَنْ جَابِرٍ بِهٰذَا الْحَدِيثِ غَيْرَ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ لَيْسَ فِي حَدِيثِهِ ذِكْرُ الْمَلَائِكَةِ وَبُكَاءُ الْبَاكِيَةِ

د جابرؓ نه دا حدیث مروی دے مګر د ابن جریج (راوی) په حدیث کښں د ملائکه او د بل ژړا کونکی ذکر نشته

عَنْ جَابِرٍ قَالَ جِيءَ بِأَبِي يَوْمَ أُحُدٍ

د جابرؓ نه روایت دے چه د غزوهٔ أحد په ورځ ځما والد صاحب ئے

النبي صلى الله عليه وسلم حتى امسى
فعاد إلى مضجعه فمر به عليٌّ فقال ما
أنى للرجل أن يعلم منزله فأقامه
فذهب به معه ولا يسأل واحد منهما
صاحبه عن شيء حتى إذا كان يوم
الثالث فعل مثل ذلك فأقامه عليٌّ معه
ثم قال له ألا تحدثني ما الذي أقدمك
هذا البلد قال إن أعطيتني عهدا
وميثاقا لترشدني فعلت ففعل فأخبره
فقال فإنه حقٌّ وهو رسول الله صلى الله
عليه وسلم فإذا أصبحت فاتبعني فإني
إن رأيت شيئا أخاف عليك قمت كأني
أريق الماء فإن مضيت فاتبعني حتى
تدخل مدخلي ففعل فانطلق يقفوه
حتى دخل على النبي صلى الله عليه
وسلم ودخل معه فسمع من قوله
وأسلم مكانه فقال له النبي صلى الله
عليه وسلم ارجع إلى قومك فأخبرهم
حتى يأتيك أمري فقال والذي نفسي
بيده لأصرخن بها بين ظهرانيهم فخرج
حتى أتى المسجد فنادى بأعلى صوته
أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول
الله وثار القوم فضربوه حتى أضجعوه

ته راغې هلته حضرت علیؓ تیر شو او اونې ونیل اوس هغه وخت نۀ دې راغلې چه دې سړې ته د خپلو اوسیدو ځائې معلوم شی بیائې هغه اودرَوو او د هغۀ سره لاړو لیکن یو د بل سره خبرې نۀ کولې تردې پورې چه دریمه ورځ شوه په هغه ورځ ئې هم هغه شان اوکړل او حضرت علیؓ هغه د خپل خان سره اودروو. او ورته ئې اووې تۀ ما ته ولې نۀ وائې د څۀ دپاره چه تۀ دې ښار ته راغلې ئې. ابوذرؓ اووې کچرې تۀ ځما سره وعده او اقرار کوې چه زۀ لاره ښائم نو زۀ وایم هغوی اقرار اوکړو. او ابوذر ورته ټول حال بیان کړو. حضرت علیؓ اووې هغه سړې رښتونې دې. او هغه بیشکه د الله رسول دې او تۀ سحر ځما سره لاړ شه. او کچرې زۀ څۀ د یرې خبره اووینم چه په هغې کښې ستاسو د مرګ یره وی نو زۀ به اودریږم لکه چه څوك اوبۀ بیهوی (متیازې کوی) او چه زۀ ځم نو تۀ هم په ما پسې روستو روستو راځه چرته چه زۀ ننوځم نو تۀ هم په ما پسې راننوځه ابوذر دغه شان اوکړل په هغۀ پسې شاته روان وو. تردې پورې چه حضرت علیؓ د رسول ﷺ خواته اورسیدو. او ابوذر هم دهغوی سره اورسیدو. بیا ابوذر د حضرت ﷺ خبرې واوریدې او په هغه ځائې مسلمان شو. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل د خپل قوم خواله لاړ شه او هغوی ته ددین خبر ورکوه تردې پورې چه ځم حکم تاته در اورسی ابوذر اووې قسم دې په هغه ذات د چا په لاس کښې چه ځم اروح دې زۀ به دا خبره (یعنی ددین دعوت) مکې والو ته په زوره سره واوروم. بیا ابوذر رااووتو او جماعت ته راغې او په چغه سره ئې اووې أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله. او خلقو په هغۀ باندې حمله اوکړه او هغه ئې په وهلو وهلو اوغورځوو. حضرت

مُجَدَّعًا فَوُضِعَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ

راوړو په دے حالت کښې چه د هغوی پوزه غوږونه پرے کړے شوی وو نو کینبودے شو د رسول الله ﷺ مخے ته الخ مخکښې د پورتنی پشان بیان دے.

بَاب مِنْ فَضَائِلِ جُلَيْبِيبٍ رضی الله عنه

باب : د جلیبیب رضی الله عنه فضیلت

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي مَغْزًى لَهُ فَأَفَاءَ اللهُ عَلَيْهِ فَقَالَ لِأَصْحَابِهِ هَلْ تَفْقِدُونَ مِنْ أَحَدٍ قَالُوا نَعَمْ فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا ثُمَّ قَالَ هَلْ تَفْقِدُونَ مِنْ أَحَدٍ قَالُوا نَعَمْ فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا ثُمَّ قَالَ هَلْ تَفْقِدُونَ مِنْ أَحَدٍ قَالُوا لَا قَالَ لَكِنِّي أَفْقِدُ جُلَيْبِيبًا فَاطْلُبُوهُ فَطُلِبَ فِي الْقَتْلَى فَوَجَدُوهُ إِلَى جَنْبِ سَبْعَةٍ قَدْ قَتَلَهُمْ ثُمَّ قَتَلُوهُ فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ قَتَلَ سَبْعَةً ثُمَّ قَتَلُوهُ هَذَا مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ هَذَا مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ قَالَ فَوَضَعَهُ عَلَى سَاعِدَيْهِ لَيْسَ لَهُ إِلَّا سَاعِدَا النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَحُفِرَ لَهُ وَوُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ غَسْلًا

د ابوبرزه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په یو جهاد کې وو الله تعالی حضرت ته مال ورکړو حضرت ﷺ خپلو خلقو ته اوفرمائیل ستاسو نه څوک ورك خو نۀ دے. خلقو عرض اوکړو آو. فلانے فلانے سړے ورك دے. بیا حضرت ﷺ تپوس اوکړو څوك ورك خو نۀ دے. خلقو عرض اوکړو آو. فلانے فلانے سړے ورك دے. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك ورك خو نۀ دے. خلقو عرض اوکړو هیڅوك نۀ دے. حضرت اوفرمائیل زۀ جلیبیب لره نۀ وینم. خلقو هغوی لره په مړو کښې تلاش کړو نو د هغوی لاش ئے د اووۀ لاشونو په خواه کښې اوموندو چه هغو لره جلیبیب وژلی وو. هغۀ اووۀ ئے مړه کړل بیا په خپله شهید شو. رسول الله ﷺ د هغوی خواله راغے او هلته اودریدو. بیائے اوفرمائیل دۀ اووۀ سړی وژلی دی روستو د هغے نه شهید شوے دے. دے خما دے او زۀ دۀ یم (یعنی زۀ او دے یو یُو) بیا حضرت ﷺ هغه په خپلو دواړو لاسونو راواخستو او یواځے حضرت ﷺ اوچت کړو روستو د هغے نه قبر اوکنستے شو او په قبر کښې ئے کینبودو. او د غسل بیان راوی نۀ دے کړے.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

باب : د ابوذر رضی الله تعالی عنه فضیلت

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ أَبُو ذَرٍّ خَرَجْنَا مِنْ قَوْمِنَا غِفَارٍ وَكَانُوا يُحِلُّونَ الشَّهْرَ الْحَرَامَ فَخَرَجْتُ أَنَا

د عبد الله بن صامت نه روایت دے وائی چه ابوذر رضی الله عنه وئیلی دی چه مونږ د خپل قوم غفار نه راووتو هغوی به حرامے میاشتے ته هم حلاله وئیله نو زۀ او خما رور اُنیس او زمونږ مور د ے واړه راووتو او زمونږ یو ماما

فَأَتَى الْعَبَّاسُ فَأَكَبَّ عَلَيْهِ فَقَالَ وَيْلَكُمْ أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنَّهُ مِنْ غِفَارٍ وَأَنَّ طَرِيقَ تُجَّارِكُمْ إِلَى الشَّامِ عَلَيْهِمْ فَأَنْقَذَهُ مِنْهُمْ ثُمَّ عَادَ مِنَ الْغَدِ بِمِثْلِهَا وَثَارُوا إِلَيْهِ فَضَرَبُوهُ فَأَكَبَّ عَلَيْهِ الْعَبَّاسُ فَأَنْقَذَهُ

عباسؓ هلته راغے او په ابوذر باندے راپریوتو او خلقو ته ئے او خلقو ته ئے اووے هلاکت دِ وی تاسو لره تاسو دے نهٔ پیژنئ چه دا سړے د غفار دے او ستاسو شام ته د سوداګیرئ لاره د غفار په ملك باندے ده (نو هغوی به ستاسو تجارت بند کړی) ابوذرؓ په دویمه ورځ هم دغه شان اوکړل او خلقو را منډے کړے او اوئے وهلو او حضرت عباسؓ د یو طرفنه راغے او هغه ئے ترے آزاد کړو.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ

باب: د جریر بن عبد الله رضی الله تعالی عنه فضیلت

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا ضَحِكَ

د جریر بن عبد اللهؓ نه روایت دے وائی چه د کله نه زهٔ مسلمان شوے یم نو رسول اللهﷺ چرته هم ددنته راتلو نه منع کړے نهٔ یم او ما چرته هم حضرتﷺ نهٔ دے لیدلے مګر په نرئ خندا کښ (یعنی په رونړ مخ او فراخه تندی به ئے ما سره میلاویدو)

عَنْ جَرِيرٍ قَالَ مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا تَبَسَّمَ فِي وَجْهِي زَادَ ابْنُ نُمَيْرٍ فِي حَدِيثِهِ عَنِ ابْنِ إِدْرِيسَ وَلَقَدْ شَكَوْتُ إِلَيْهِ أَنِّي لَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَضَرَبَ بِيَدِهِ فِي صَدْرِي وَقَالَ اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا

د جریر نه روایت دے چه رسول اللهﷺ زهٔ چرته د ته راتلو نه منع کړے نهٔ یم د کله نه چه زهٔ مسلمان شوے یم او هر کله به ئے چه زهٔ اولیدم نو د حضرتﷺ په مخ به خندا وه. د ابن نمیر په حدیث کښ د ابوادریس په وخه دا زیاته ده چه ما حضرتﷺ ته شکایت اوکړو، زهٔ په اس نهٔ شم تینګیدے. حضرتﷺ په لاس خما سینه اووهله او اوئے فرمائیل. یا الله تینګ کړے دهٔ لره او دهٔ لره لار خودونکے لار موندونکے کړے.

عَنْ جَرِيرٍ قَالَ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ بَيْتٌ يُقَالُ لَهُ ذُو الْخَلَصَةِ وَكَانَ يُقَالُ لَهُ الْكَعْبَةُ الْيَمَانِيَةُ وَالْكَعْبَةُ الشَّامِيَّةُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ أَنْتَ مُرِيحِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ وَالْكَعْبَةِ الْيَمَانِيَةِ

د جریر نه روایت دے وائی چه د جاهلیت په زمانه کښ یوه بُت خانه وه (په یمن کښ) چه هغے ته به ئے ذوالخُلیفه وئیله او کعبه یمانی یا کعبه شامی د هغے نوم وو وائی چه رسول اللهﷺ ما ته اوفرمائیل. اے جریرهؓ ته ما نهٔ بے فکره کوے د ذوالخلصه او کعبه یمانی او شامی د طرفنه (یعنی هغے لره تباه او برباد کړه چه خلق د شرك نه بچ

وَاخِي أُنَيْسٌ وَأُمُّنَا فَنَزَلْنَا عَلَى خَالٍ لَنَا
فَأَكْرَمَنَا خَالُنَا وَأَحْسَنَ إِلَيْنَا فَحَسَدَنَا
قَوْمُهُ فَقَالُوا إِنَّكَ إِذَا خَرَجْتَ عَنْ أَهْلِكَ
خَالَفَ إِلَيْهِمْ أُنَيْسٌ فَجَاءَ خَالُنَا فَنَثَا
عَلَيْنَا الَّذِي قِيلَ لَهُ فَقُلْتُ أَمَّا مَا مَضَى
مِنْ مَعْرُوفِكَ فَقَدْ كَدَّرْتَهُ وَلَا جِمَاعَ لَكَ
فِيمَا بَعْدُ فَقَرَّبْنَا صِرْمَتَنَا فَاحْتَمَلْنَا
عليها وتغطى خالنا ثوبه فجعل يبكي
فَانْطَلَقْنَا حَتَّى نَزَلْنَا بِحَضْرَةِ مَكَّةَ فَنَافَرَ
أُنَيْسٌ عَنْ صِرْمَتِنَا وَعَنْ مِثْلِهَا فَأَتَيَا
الْكَاهِنَ فَخَيَّرَ أُنَيْسًا فَأَتَانَا أُنَيْسٌ
بِصِرْمَتِنَا وَمِثْلِهَا مَعَهَا قَالَ وَقَدْ صَلَّيْتُ
يَا ابْنَ أَخِي قَبْلَ أَنْ أَلْقَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى
اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَلَاثِ سِنِينَ قُلْتُ لِمَنْ
قَالَ لِلَّهِ قُلْتُ فَأَيْنَ تَوَجَّهُ قَالَ أَتَوَجَّهُ
حَيْثُ يُوَجِّهُنِي رَبِّي أُصَلِّي عِشَاءً حَتَّى
إِذَا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ أُلْقِيتُ كَأَنِّي
خِفَاءٌ حَتَّى تَعْلُوَنِي الشَّمْسُ فَقَالَ
أُنَيْسٌ إِنَّ لِي حَاجَةً بِمَكَّةَ فَاكْفِنِي
فَانْطَلَقَ أُنَيْسٌ حَتَّى أَتَى مَكَّةَ فَرَاثَ عَلَيَّ
ثُمَّ جَاءَ فَقُلْتُ مَا صَنَعْتَ قَالَ لَقِيتُ
رَجُلًا بِمَكَّةَ عَلَى دِينِكَ يَزْعُمُ أَنَّ اللَّهَ
أَرْسَلَهُ قُلْتُ فَمَا يَقُولُ النَّاسُ قَالَ

وو د هغهٔ سره كوز شو. هغه زمونږ خاطر داري او زمونږ سره ئې نيكي او كړه. د هغهٔ قوم زمونږ سره حسد او كړو او اوئې وئيل (زمونږ ماما ته) هر كله چه ته د خپل كور نه اوځې نو أُنيس ستا د بي بي سره زنا كوي هغه زمونږ خواله راغې او دا خبره ئې مشهوره كړه (د حماقت نه) ما اووے تا چه زمونږ سره كوم احسان كړے وو هغه هم خراب شو اوس مونږ ستا سره نهٔ شو پاتې كيدے. آخر مونږ د خپلو اوښانو خواله لاړو او خپل اسباب مو بار كړلو خما ماما كپړه واغوسته او ژړائې شروع كړه مونږ روان شو تردے پورے چه د مكے مخې ته كوز شو. أُنيس يو شرط اولګوؤ په دومره اوښانو باندے چه زمونږ سره وو او په دومره نورو باندے بيا دواړه د نجومي خواله لاړل نجومي أُنيس ته اووے چه دے بري دے. أُنيس زمونږ اوښان راوستو او دومره ئې نور راوستل.
ابوذر اووے اے خما د رور بچيه ما د رسول الله ﷺ د ملاقات نه مخكښې درے كاله مونځ كړے دے. ما اووے د چا دپاره مو كړے. ابوذرؓ اووے د الله تعالى دپاره. ما اووے مخ به د كوم طرفته وو هغوي اووے مخ به مې هغه طرفته كولو كوم طرفته چه به الله تعالى خما مخ كولو د ماسختن مونځ مو كولو هر كله چه به آخره شپه شوه نو د كمبل په شان به مو كولو تردے پورې چه نمر زمونږ دپاسه راغے أُنيس اووے خما په مكه كښې كار دے تهٔ دلته پاتې شه زهٔ خم هغه لاړو او دير وخت پس بيا راغے. ما اووے تا څهٔ اوكړل. هغهٔ اووے زهٔ د يو سړي سره په مكه كښې ميلاؤ شوم چه هغه ستا په دين باندے دے او هغه وائي چه الله تعالى هغهٔ لره راليږلے دے. ما اووے خلق هغهٔ ته څهٔ وائي. هغهٔ اووے خلق هغهٔ ته شاعر كاهن او جادوګر وائي. او أُنيس پخپله هم شاعر وو. هغهٔ اووے ما د كاهنانو خبره اوريدلے ده. ليكن كوم كلام چه دا

وَالشَّامِيَّةِ فَنَفَرْتُ إِلَيْهِ فِي مِائَةٍ وَخَمْسِينَ مِنْ أَحْمَسَ فَكَسَرْنَاهُ وَقَتَلْنَا مَنْ وَجَدْنَا عِنْدَهُ فَأَتَيْتُهُ فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ فَدَعَا لَنَا وَلِأَحْمَسَ

شي، ما یو نیم سل سړي د احمس قبیلې د خان سره کړل او لاړم او ذوالخلصه مې ماته کړه. او څومره خلق چه مې هلته موندۀ هغه مې قتل کړل بیا واپس راغلم او حضرت ﷺ ته مې بیان اوکړو. حضرت ﷺ خما دپاره او د احمس قبیلې دپاره دُعا اوکړه.

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْبَجَلِيِّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا جَرِيرُ أَلَا تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ بَيْتٍ لِخَثْعَمٍ كَانَ يُدْعَى كَعْبَةَ الْيَمَانِيَةِ قَالَ فَنَفَرْتُ فِي خَمْسِينَ وَمِائَةِ فَارِسٍ وَكُنْتُ لَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبَ يَدَهُ فِي صَدْرِي فَقَالَ اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا قَالَ فَانْطَلَقَ فَحَرَّقَهَا بِالنَّارِ ثُمَّ بَعَثَ جَرِيرٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُبَشِّرُهُ يُكْنَى أَبَا أَرْطَاةَ مِنَّا فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ مَا جِئْتُكَ حَتَّى تَرَكْنَاهَا كَأَنَّهَا جَمَلٌ أَجْرَبُ فَبَرَّكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خَيْلِ أَحْمَسَ وَرِجَالِهَا خَمْسَ مَرَّاتٍ

د جریر بن عبد الله بجلي نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائیل چه اے جریره ته ماله آرام نۀ راکوے د ذوالخلصه نه چه خثعم (یوه قبیله ده) بت خانه وه. هغې ته به ئې کعبه یماني هم وئیله جریر وائي ما خان سره یو نیم سل سوارۀ واخستل او هلته لاړم او زۀ به په اس نۀ شوم ټینګیدے نو ما رسول الله ﷺ ته دا دے بیان اوکړو. هغوی خپل لاس خما په سینه باندے اووهو او اوئې فرمائیل الله دے ټینګ کړه او دے لاره خودونکے او لاره موندونکے جوړ کړے. بیا جریر ؓ لاړو او ذوالخلصه ئې په اُور اوسیزله. د سیزلو نه پس ئې یو سړے چه د هغۀ نوم ابوارطاة وو د زیرې کولو دپاره په رسول الله ﷺ پسے اولیږو. هغه د حضرت ﷺ خواله راغے او اوئې وئیل چه مونږ ذوالخلصه د خاربښتي اوښ پشان پریخوده او راغلو (په خاربښتي اوښ باندے تور تیل مږي. مطلب دا دے چه هغه هم د سیزلو سره توره شوے وه) رسول الله ﷺ د احمس د اسونو او سړو دپاره د برکت دُعا اوکړه پنځۀ ځلې.

عَنْ إِسْمَعِيلَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي حَدِيثِ مَرْوَانَ فَجَاءَ بَشِيرُ جَرِيرٍ أَبُو أَرْطَاةَ حُصَيْنُ بْنُ رَبِيعَةَ يُبَشِّرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د اسماعیل نه په دے اسناد سره روایت دے او د مروان (راوي) په حدیث کښې دي چه د جریر د طرفنه ابوارطاة زیرې اوړولو والا راغے او رسول الله ﷺ ته زیرے واوروو.

بَابُ فَضَائِلِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا

باب: د عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنه فضیلت

يَقُولُونَ شَاعِرٌ كَاهِنٌ سَاحِرٌ وَكَانَ أُنَيْسٌ أَحَدَ الشُّعَرَاءِ قَالَ أُنَيْسٌ لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْكَهَنَةِ فَمَا هُوَ بِقَوْلِهِمْ وَلَقَدْ وَضَعْتُ قَوْلَهُ عَلَى أَقْرَاءِ الشِّعْرِ فَمَا يَلْتَئِمُ عَلَى لِسَانِ أَحَدٍ بَعْدِي أَنَّهُ شِعْرٌ وَاللَّهِ إِنَّهُ لَصَادِقٌ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ قَالَ قُلْتُ فَاكْفِنِي حَتَّى أَذْهَبَ فَأَنْظُرَ قَالَ فَأَتَيْتُ مَكَّةَ فَتَضَعَّفْتُ رَجُلًا مِنْهُمْ فَقُلْتُ أَيْنَ هَذَا الَّذِي تَدْعُونَهُ الصَّابِئَ فَأَشَارَ إِلَيَّ فَقَالَ الصَّابِئَ فَمَالَ عَلَيَّ أَهْلُ الْوَادِي بِكُلِّ مَدَرَةٍ وَعَظْمٍ حَتَّى خَرَرْتُ مَغْشِيًّا عَلَيَّ قَالَ فَارْتَفَعْتُ حِينَ ارْتَفَعْتُ كَأَنِّي نُصُبٌ أَحْمَرُ قَالَ فَأَتَيْتُ زَمْزَمَ فَغَسَلْتُ عَنِّي الدِّمَاءَ وَشَرِبْتُ مِنْ مَائِهَا وَلَقَدْ لَبِثْتُ يَا ابْنَ أَخِي ثَلَاثِينَ بَيْنَ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ مَا كَانَ لِي طَعَامٌ إِلَّا مَاءُ زَمْزَمَ فَسَمِنْتُ حَتَّى تَكَسَّرَتْ عُكَنُ بَطْنِي وَمَا وَجَدْتُ عَلَى كَبِدِي سُخْفَةَ جُوعٍ قَالَ فَبَيْنَا أَهْلُ مَكَّةَ فِي لَيْلَةٍ قَمْرَاءَ إِضْحِيَانَ إِذْ ضُرِبَ عَلَى أَسْمِخَتِهِمْ فَمَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ أَحَدٌ وَامْرَأَتَيْنِ مِنْهُمْ تَدْعُوَانِ إِسَافًا وَنَائِلَةَ قَالَ فَأَتَتَا عَلَيَّ فِي طَوَافِهِمَا فَقُلْتُ أَنْكِحَا أَحَدَهُمَا

سړے واتی هغه د کاهنانو کلام نه دے او ما د هغهٔ کلام د شعر په تولو بحرونو باندے کیښودو نو هغه په یوه حبّه باندے خما نه پس سمون نهٔ خوری د شعر پشان په الله قسم دے چه هغه رښتونے دے او خلق دروغجن دی. ما اووے ته دلته پاتے شه زهٔ خم چه هغه سړے اووینم. بیا زهٔ مکے ته راغلم او یو کمزورے سړے مے د مکے د خلقو نه اولیدو (ځکه چه طاقتور سړے کیدے شی ما ته تکلیف رااورسوی) او د هغهٔ نه مے تپوس اوکړو چه هغه سړے کوم خائے دے کوم ته چه تاسو صابی وایئ؟ (یعنی دین بدلولو والا. د عربو کفارو به معاذ الله رسول الله ﷺ ته صابی ونیلو) هغه خما په طرف اشاره اوکړه او اوئے وئیل دا صابی دے (ځکه چه د صابی تپوس کوی) دد ے په اوریدو تولے وادئ والا خلقو لوټے او هډوکی راواخستل او په ما باندے ئے راغلل تر دے پورے چه زهٔ بیهوشه رااوغورځیدم. هر کله چه زهٔ په هوش کښ راغلم او پاځیدم نو څهٔ ګورم چه یو سور بُت وم (یعنی د سَر نه د خپو پورے په وینو سوروم) بیا زهٔ د زم زم خواله راغلم او توله وینه مے ووینځله او د زم زم اوبهٔ مے اوڅښلے. نو اے خما ورارهٔ زهٔ هلته دیرش شپے یا دیرش ورځے پاتے شوم او څهٔ خوراك خما سره نهٔ وو سوا د زم زم د اوبو نه (زهٔ چه به هر کله چه تږے شوم نو دغه اوبهٔ به مے اوڅښلے) بیا زهٔ بنهٔ څورب شوم تر دے پورے چه خما د ګیډے تیونه رانسکته شو (د څورب والی نه) او ما پخپله اینه کښ د لوږے کمزوری نهٔ موندله یو ځل مکے والاد سپوږمۍ په شپو کښ اوده شول دغه وخت د بیت الله طواف هیچا نهٔ کولو. صرف دوو ښځو اساف او نائله ته چغے وهلے (أُساف او نائله دوه بتان وو په مکه کښ أُساف سړے وو او نائله ښځه وه د کفارو دا اعتقاد وو چه دے دوارو دغلته زنا کړے وه په دی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى الْخَلَاءَ فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا فَلَمَّا خَرَجَ قَالَ مَنْ وَضَعَ هٰذَا فِي رِوَايَةِ زُهَيْرٍ قَالُوا وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ قُلْتُ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ اللّٰهُمَّ فَقِّهْهُ

د عبدالله بن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ پانخانے ته تشریف یوړلو ما د حضرت ﷺ دپاره د اودس اوبهٔ کیښودے. حضرت چه هر کله رااووتو نو تپوس ئے اوکړو دا اوبهٔ چا ایخودی دی خلقو اووے یا ما اووے چه دا ابن عباسؓ ایخودی دی حضرت ﷺ اوفرمائیل یا اللهؐ دهٔ لره په دین کښ پوهه ورکړے.

بَابُ فِقْهُ فَضَائِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

باب: د عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنه فضیلت

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ فِي يَدِي قِطْعَةَ إِسْتَبْرَقٍ وَلَيْسَ مَكَانٌ أُرِيدُ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا طَارَتْ إِلَيْهِ قَالَ فَقَصَصْتُهُ عَلَى حَفْصَةَ فَقَصَّتْهُ حَفْصَةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَى عَبْدَ اللهِ رَجُلًا صَالِحًا

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے وائی چه په خوب کښ مے اولیدل چه څما په لاس کښ د استبرق یوه ټکړه ده (استبرق یوه ریښمی کپړه ده) او زهٔ چه په جنت کښ کوم کور ته تلل غوارم هغه ټکړه ما په هوا هلته بوځی. دا خوب ما خپلے خور د مؤمنانو مور حضرت حفصےؓ ته بیان کړه او هغوی رسول الله ﷺ ته بیان کړو. حضرت اوفرمائیل عبد الله زهٔ پیژم نیک سړے دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ ﷺ إِذَا رَأَى رُؤْيَا قَصَّهَا عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَتَمَنَّيْتُ أَنْ أَرَى رُؤْيَا أَقُصُّهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَكُنْتُ غُلَامًا شَابًّا عَزَبًا وَكُنْتُ أَنَامُ فِي الْمَسْجِدِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَرَأَيْتُ فِي النَّوْمِ كَأَنَّ مَلَكَيْنِ أَخَذَانِي فَذَهَبَا بِي إِلَى النَّارِ فَإِذَا هِيَ مَطْوِيَّةٌ كَطَيِّ الْبِئْرِ وَإِذَا لَهَا قَرْنَانِ كَقَرْنَيِ الْبِئْرِ وَإِذَا فِيهَا نَاسٌ قَدْ عَرَفْتُهُمْ فَجَعَلْتُ أَقُولُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ قَالَ فَلَقِيَهُمَا مَلَكٌ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ په ژوند کښ چه به چا څهٔ خوب اولیدهٔ نو حضرتؐ ته به ئے بیانوؤ. او زهٔ خوان هلك وم یواخی په جماعت کښ به اودهٔ کیدم د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښ. ما خوب اولیدو چه دوه فرښتو زهٔ نیولے یم او د جهنم په طرف ئے بوتلمه څهٔ گورم چه هغه پیچ درپیچ ژور دے د کوهی پشان او په هغے باندے دوه لرگی دی لکه څنگه چه په کوهی باندے وی. په هغے کښ څهٔ خلق وو چه هغه ما اوپیژندل. ما دا وینا شروع کړه. چه په الله سره پناه غوارم د جهنم نه. په الله سره پناه غوارم د جهنم نه. بیا را ته یوه بله فرښته میلاؤ شو او

الْأُخْرَى قَالَ فَمَا تَنَاهَتَا عَنْ قَوْلِهِمَا قَالَ فَأَتَتَا عَلَيَّ فَقُلْتُ هَنٌ مِثْلُ الْخَشَبَةِ غَيْرَ أَنِّي لَا أَكْنِي فَانْطَلَقَتَا تُوَلْوِلَانِ وَتَقُولَانِ لَوْ كَانَ هَاهُنَا أَحَدٌ مِنْ أَنْفَارِنَا قَالَ فَاسْتَقْبَلَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَهُمَا هَابِطَانِ قَالَ مَا لَكُمَا قَالَتَا الصَّابِئُ بَيْنَ الْكَعْبَةِ وَأَسْتَارِهَا قَالَ مَا قَالَ لَكُمَا قَالَتَا إِنَّهُ قَالَ لَنَا كَلِمَةً تَمْلَأُ الْفَمَ وَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى اسْتَلَمَ الْحَجَرَ وَطَافَ بِالْبَيْتِ هُوَ وَصَاحِبُهُ ثُمَّ صَلَّى فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ قَالَ أَبُو ذَرٍّ فَكُنْتُ أَنَا أَوَّلَ مَنْ حَيَّاهُ بِتَحِيَّةِ الْإِسْلَامِ قَالَ فَقُلْتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ ثُمَّ قَالَ مَنْ أَنْتَ قَالَ قُلْتُ مِنْ غِفَارٍ قَالَ فَأَهْوَى بِيَدِهِ فَوَضَعَ أَصَابِعَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ فَقُلْتُ فِي نَفْسِي كَرِهَ أَنِ انْتَمَيْتُ إِلَى غِفَارٍ فَذَهَبْتُ آخُذُ بِيَدِهِ فَقَدَعَنِي صَاحِبُهُ وَكَانَ أَعْلَمَ بِهِ مِنِّي ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ قَالَ مَتَى كُنْتَ هَاهُنَا قَالَ قُلْتُ قَدْ كُنْتُ هَاهُنَا مُنْذُ ثَلَاثِينَ بَيْنَ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ قَالَ فَمَنْ كَانَ يُطْعِمُكَ قَالَ قُلْتُ مَا كَانَ

وجه سره مسخ شوی او بتان شوی وو) هغوی طواف کوو کوو خما مخے له راغلے ما ورته اووے دد ے یو نکاح د بل سره اوکړئ (یعنی د اساف د نائیله سره) دد ے په اوریدو هم هغه د خپلے خبرے نه قلار نۀ شوے. بیا ورته ما صفا اووے ددوی په فلانی کښ لرګے (یعنی دا فحش د أساف او نائله د عبادت د وجے نه) او ماله کنایه نۀ راتله (یعنی په کنایه اشاره کښ ما کنخل او نۀ کړل ښکاره په ښکاره مے اوکړل أساف او نائله ته او هغه دواړو مردود ښځو ته د غصه راوستو دپاره چه دالله تعالی په کور کښ الله پریږدی او أساف او نائیله ته آواز کوی) دد ے په اوریدو هغه دواړه ښځے په چغو او وینا کولو سره روانے شوے چه افسوس اوس زمونږ د خلقو نه څوک وے (چه دے سړی له ئے د بےادبۍ سزا ورکړے وے) په لاره کښ هغه ښځو ته رسول الله ﷺ او ابوبکر صدیق ؓ میلاؤ شو او هغوی راکوزیدلو د غر نه هغوی هغه ښځو ته اووے څۀ اوشو؟ هغوی اووے یو صابی راغلے دے چه د کعبے په پردو کښ پټ شوے دے. هغوی اووے هغه صابی څۀ وائی؟ هغوی ښځو اووے هغه داسے خبره اوکړه چه په هغے سره خلۀ ډکیږی (یعنی هغه په ژبه وئیلے کیدے نۀ شی) او رسول الله ﷺ تشریف راوړو تردے پوے چه حجر اسود ئے ښکل کړو او طواف ئے اوکړو د خپل ملګری سره بیائے مونځ اوکړو. هر کله چه ئے مونځ اوکړو نو ابوذر ؓ وائی ما د هر چا نه اول د اسلام سنت ادا کړو او اومے وئیل السلام علیك یا رسول الله ﷺ! حضرت ﷺ اوفرمائیل وعلیك السلام ورحمة الله. بیا حضرت ﷺ تپوس اوکړو چه ته څوک ئے؟ ما اووے د غفار یو سړے یم حضرت ﷺ خپل لاسونه مبارك راکاږۀ کړل او خپلے ګوتے ئے په تندی کیښودے (لکه چه څوک ذکر کوی، ما په زړۀ کښ اووے چه کیدے

فقال لي لم ترع فقصصتها على حفصة فقصتها حفصة على رسول الله ﷺ فقال النبي صلى الله عليه وسلم نعم الرجل عبد الله لو كان يصلي من الليل قال سالم فكان عبد الله بعد ذلك لا ينام من الليل إلا قليلا

هغې اووې تاله څۀ يره نشته. دا خوب ما حضرت حفصې ته بيان کړو او هغوی رسول الله ﷺ ته بيان کړو. حضرت اوفرمائيل عبد الله ﷺ ښه سړے دے کچرے د شپې نې تهجد کولے. سالم وائی عبد الله به د هغې نه پس د شپې نه اوده کيدو مګر لږ ساعت (دا چه تهجد به ئې کولو)

عن ابن عمر قال كنت أبيت في المسجد ولم يكن لي أهل فرأيت في المنام كأنما انطلق بي إلى بئر فذكر عن النبي ﷺ بمعنى حديث الزهري عن سالم عن أبيه

د ابن عمر نه روايت دے چه زۀ به په جُماعت کښې اودريدم او زۀ وادۀ کړے نۀ وم. نو ما په خوب کښې اوليدل چه لکه زۀ يو کوهی ته بوتلے شوم. مخکښې حديث هغه شان بيان کړو لکه چه زهری د سالم نه او هغوی د خپل پلار عبدالله نه بيان کړو.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ

باب : د انس بن مالك رضی الله عنه فضيلت

عَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ خَادِمُكَ أَنَسٌ ادْعُ اللهَ لَهُ فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ

د اُم سليم نه روايت دے چه هغوی اووے يا رسول الله ! انس ستاسو خادم دے د هغۀ دپاره دُعا اوفرمايئ. حضرت ﷺ اوفرمائيل يا الله ډير مال او ډير اولاد انس له ورکړه. او څۀ چه تۀ هغۀ له ورکړے نو برکت کړه په هغې کښې.

عَنْ أَنَسٍ يَقُوْلُ قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ يَا رَسُوْلَ اللهِ خَادِمُكَ أَنَسٌ فَذَكَرَ نَحْوَهُ

د انس نه روايت دے چه اُم سليم اووئيل. يا رسول الله! انس ستاسو خادم دے. بيا د پورتنی حديث پشان ئې بيان کړو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُوْلُ مِثْلَ ذٰلِكَ

د انس بن مالك نه دغسې روايت دے.

عن أنس قال دخل النبي صلى الله عليه وسلم علينا وما هو إلا أنا وأمي وأم حرام خالتي فقالت أمي يا رسول الله خويدمك ادع الله له قال فدعا لي بكل خير وكان في آخر ما دعا لي به أن قال اللهم أكثر ماله وولده وبارك له فيه

د انس نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ زمونږ کورته تشريف راوړو. هغه وخت په کور کښې څوك نۀ وو سوا ځما نه او ځما د مور اُم سليم او ځما د ترور اُم حرام نه ځما مور اووے يا رسول الله! د خپل ورکوټی خادم (انس) دپاره دُعا اوغواړئ. حضرت ﷺ دُعا اوغوښته د هر يو ے نيکئ دپاره. او په آخر کښې ئې دا دُعا اوغوښته. يا الله ډير کړه د هغۀ مال او ډير کړه د هغۀ اولاد او برکت کړه په هغې کښې.

لِي طَعَامٌ إِلَّا مَاءُ زَمْزَمَ فَسَمِنْتُ حَتَّى تَكَسَّرَتْ عُكَنُ بَطْنِي وَمَا أَجِدُ عَلَى كَبِدِي سُخْفَةَ جُوعٍ قَالَ إِنَّهَا مُبَارَكَةٌ إِنَّهَا طَعَامُ طُعْمٍ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ ائْذَنْ لِي فِي طَعَامِهِ اللَّيْلَةَ فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَانْطَلَقْتُ مَعَهُمَا فَفَتَحَ أَبُو بَكْرٍ بَابًا فَجَعَلَ يَقْبِضُ لَنَا مِنْ زَبِيبِ الطَّائِفِ وَكَانَ ذَلِكَ أَوَّلَ طَعَامٍ أَكَلْتُهُ بِهَا ثُمَّ غَبَرْتُ مَا غَبَرْتُ ثُمَّ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ وُجِّهَتْ لِي أَرْضٌ ذَاتُ نَخْلٍ لَا أُرَاهَا إِلَّا يَثْرِبَ فَهَلْ أَنْتَ مُبَلِّغٌ عَنِّي قَوْمَكَ عَسَى اللهُ أَنْ يَنْفَعَهُمْ بِكَ وَيَأْجُرَكَ فِيهِمْ فَأَتَيْتُ أُنَيْسًا فَقَالَ مَا صَنَعْتَ قُلْتُ صَنَعْتُ أَنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ وَصَدَّقْتُ قَالَ مَا بِي رَغْبَةٌ عَنْ دِينِكَ فَإِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ وَصَدَّقْتُ فَأَتَيْنَا أُمَّنَا فَقَالَتْ مَا بِي رَغْبَةٌ عَنْ دِينِكُمَا فَإِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ وَصَدَّقْتُ فَاحْتَمَلْنَا حَتَّى أَتَيْنَا قَوْمَنَا غِفَارًا فَأَسْلَمَ نِصْفُهُمْ وَكَانَ يَؤُمُّهُمْ أَيْمَاءُ بْنُ رَحَضَةَ الْغِفَارِيُّ وَكَانَ سَيِّدَهُمْ وَقَالَ نِصْفُهُمْ إِذَا قَدِمَ رَسُولُ

شی حضرت ﷺ ته بده معلومه شوه خما دا خبره چه زهٔ غفار نه یم ما ورمنده کړه د حضرت ﷺ د لاسونو مبارکو د نیولو دپاره. لیکن د حضرت ﷺ ملګری (ابوبکر ؓ) چه خما نه زیات د حضرت ﷺ په حال پوهه وو زهٔ منع کړم. بیا حضرت ﷺ سره اوچت کړو او اوئے فرمائیل ته دلته کله راغلے ئے؟ (ددے نه معلومه شوه چه پیغمبر ته علم غیب نهٔ وو ورنه دغلته د راتلو تپوس به ئے نهٔ کوی) ما اووے زهٔ خو دلته د دیرشو شپو یا ورځو نه یم. حضرت ﷺ اوفرمائیل تاله غله څوك راوړی. ما اووے خوراك وغیره هیڅ نشته سوا د زمزم د اُوبو نه تردے پورے چه زهٔ ئے بنهٔ څورب کړم او ګیډے ته مے تیونه اوکړل او زهٔ پخپله اینه کنبں د لوږے کمزوری نهٔ مومم. حضرت ﷺ اوفرمائیل د زمزم اوبهٔ برکت والا دی او خوراك هم دے د طعام پشان ګیډه ډکوی. ابوبکر ؓ اووے یا رسول الله ﷺ! نن شپه اجازت راکړه چه په دهٔ باندے طعام اوخوروم. بیا رسول الله ﷺ او ابوبکر ؓ لاړل او زهٔ د ورسره لاړم. ابوبکر ؓ یوه دروازه کهولاو کړه او د هغے نه ئے د طائف اوچ انګور راوویستل. دا ړومبے خوراك وو. بیا هلته وم زهٔ د کومے پوری چه وم. پس د هغے نه د رسول الله ﷺ خواله راغلم حضرت ﷺ اوفرمائیل ما ته یوه زمکه اوښودے شوه کهجورو والا چه هغه بله یوه زمکه نهٔ ده د یثرب نه (دا د مدینے طیبے نوم وو) نو تهٔ خما د طرفنه خپل قوم ته ددین دعوت ورکړه. کیدے شی الله تعالی ستا په وجه هغوی ته نفع ورکړی. او تاته ثواب درکړی. بیا زهٔ د اُنیس خواله راغلم هغهٔ تپوس اوکړو چه تا څهٔ اوکړو؟ ما اووے اسلام مے راوړو او د حضرت ﷺ د نبوت تصدیق مے اوکړو. هغهٔ اووے ستاسو د دین نه خما هم نفرت نهٔ دے. ما هم اسلام راوړو او تصدیق د حضرت ﷺ د نبوت مے اوکړو. بیا مونږ په اوښانو باندے اسباب بار

عَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَتْ بِي أُمِّي أُمُّ أَنَسٍ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أَزَّرَتْنِي بِنِصْفِ خِمَارِهَا وَرَدَّتْنِي بِنِصْفِهِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ هٰذَا أُنَيْسٌ ابْنِي أَتَيْتُكَ بِهِ يَخْدُمُكَ فَادْعُ اللهَ لَهُ فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ قَالَ أَنَسٌ فَوَاللهِ إِنَّ مَالِي لَكَثِيرٌ وَإِنَّ وَلَدِي وَوَلَدَ وَلَدِي لَيَتَعَادُّونَ عَلَى نَحْوِ الْمِائَةِ الْيَوْمَ

روایت دے وائی چه خما مور زۀ د رسول الله ﷺ خواله راوستم او خپل پړونے (څادر یا لوپټه) ئے اوشلوله د نیمے نه ئے ماله لنګ اووهو او نیم ئے ماله څادر کړو نو اوئے وئیل یا رسول الله ﷺ دا وړوکے انس خما خوئ دے ستاسو خدمت به کوی تاسو دده دپاره دُعا اوکړئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل یاالله دده مال او دده اولاد ډیر کړه انس وائی نو په الله قسم دے خما مال ډیر دے او خما خامن او نمسي د سلو نه زیات دي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَسَمِعَتْ أُمِّي أُمُّ سُلَيْمٍ صَوْتَهُ فَقَالَتْ بِأَبِي وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ أُنَيْسٌ فَدَعَا لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ دَعَوَاتٍ قَدْ رَأَيْتُ مِنْهَا اثْنَتَيْنِ فِي الدُّنْيَا وَأَنَا أَرْجُو الثَّالِثَةَ فِي الْآخِرَةِ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ تیر شو نو خما مور أم سلیم د حضرت ﷺ آواز واوریدو. او ورته ئے اوئیل خما پلار مور د ستا نه قربان شي دا وړوکے انس دے. حضرت خما دپاره درے خله دُعا اوکړه دوه خو مے په دنیا کښې اوموندلے او د دریمے مے په آخرت کښې اُمید دے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَتَى عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ قَالَ فَسَلَّمَ عَلَيْنَا فَبَعَثَنِي إِلَى حَاجَةٍ فَأَبْطَأْتُ عَلَى أُمِّي فَلَمَّا جِئْتُ قَالَتْ مَا حَبَسَكَ قُلْتُ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَاجَةٍ قَالَتْ مَا حَاجَتُهُ قُلْتُ إِنَّهَا سِرٌّ قَالَتْ لَا تُحَدِّثَنَّ بِسِرِّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدًا قَالَ أَنَسٌ وَاللهِ لَوْ حَدَّثْتُ بِهِ أَحَدًا لَحَدَّثْتُكَ يَا ثَابِتُ

د انسؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ خما خواله تشریف راوړو او ما د هلکانو سره لوبے کولے. حضرت ﷺ مونږ ته سلام اوکړو. بیائے زۀ د څۀ کار دپاره اولیږلم. زۀ د خپلے مور خواله ناوخت لاړم. هر کله چه لاړم نو خما مور اووے تا ولے ناوخته کړو. ما اووے چه رسول الله ﷺ زۀ د څۀ کار دپاره لیږلے وم هغے اووے څۀ کار وو ما اووے هغه راز وو. خما مور اووے. د رسول الله ﷺ راز هیچا ته مۀ وایه. انسؓ اووے. په الله قسم دے کچرے هغه راز ما چاته وئیلے نو اے ثابته تاته به مے وئیلے وو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَسَرَّ إِلَيَّ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِرًّا فَمَا أَخْبَرْتُ بِهِ أَحَدًا بَعْدُ وَلَقَدْ سَأَلَتْنِي عَنْهُ أُمُّ سُلَيْمٍ فَمَا أَخْبَرْتُهَا بِهِ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د رازیوه خبره ماته اوکړه ما هغه هیچا ته نۀ ده بیان کړے تر دے پورے چه خما مور أم سلیمؓ خما نه تپوس اوکړو او ما هغے ته هم بیان نۀ کړو

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَسْلَمْنَا فَقَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَأَسْلَمَ نِصْفُهُمُ الْبَاقِي وَجَاءَتْ أَسْلَمُ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِخْوَتُنَا نُسْلِمُ عَلَى الَّذِي أَسْلَمُوا عَلَيْهِ فَأَسْلَمُوا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِفَارُ غَفَرَ اللهُ لَهَا وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ

عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ قُلْتُ فَاكْفِنِي حَتَّى أَذْهَبَ فَأَنْظُرَ قَالَ نَعَمْ وَكُنْ عَلَى حَذَرٍ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ فَإِنَّهُمْ قَدْ شَنِفُوا لَهُ وَتَجَهَّمُوا

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ أَبُو ذَرٍّ يَا ابْنَ أَخِي صَلَّيْتُ سَنَتَيْنِ قَبْلَ مَبْعَثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ فَأَيْنَ كُنْتَ تَوَجَّهُ قَالَ حَيْثُ وَجَّهَنِيَ اللهُ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ فَتَنَافَرَا إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْكُهَّانِ قَالَ فَلَمْ يَزَلْ أَخِي أُنَيْسٌ يَمْدَحُهُ حَتَّى غَلَبَهُ قَالَ فَأَخَذْنَا صِرْمَتَهُ فَضَمَمْنَاهَا إِلَى صِرْمَتِنَا وَقَالَ أَيْضًا فِي حَدِيثِهِ قَالَ فَجَاءَ النَّبِيُّ ﷺ فَطَافَ بِالْبَيْتِ

کړل تر دے پورے چه خپل قوم غفار ته اورسیدو. نیم قوم مسلمانان شو او د هغوی امام ایماء بن رحضه غفاری وو. هغه د هغوی سردار هم وو. او نیم قوم دا اووے چه هر کله رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړے نو مونږ به مسلمانیږو. بیا رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړو او نیم قوم چه کوم پاتے وو هغوی هم مسلمانان شو او د اسلم خلق راغلل هغوی اووے یا رسول الله! مونږ هم د خپلو غفاریانو رونړو پشان مسلمانیږو. هغوی هم مسلمانان شو. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل غفار لره الله اوبخښل او اسلم لره الله بچ کړل د قتل او قید نه.[1]

د حمید بن هلال نه په دے اسناد سره روایت دے. او په دے کښې دا زیاته ده چه بیا ده څه لیکن د اهل مکه نه هوښیار اوسه، هغه دشمنان دی د هغه سړی. او بهانے جوړوی د هغهٔ په باره کښې.

د عبد الله بن صامت نه روایت دے چه ابوذر وئیلی دی چه اے ځما ورارهٔ ما د حضرت ﷺ د پیغمبرئ نه مخکښې دوه کاله مخکښې مونځ کولو. ما اووے چه تاسو کوم طرفته مخ کولو او مونځ مو کولو نو هغوی اووے کوم طرفته به چه الله تعالی ځما مخ اړولو. بیانے د سلیمان بن مغیره د حدیث پشان پوره واقعه بیان کړه. او په دے حدیث کښې دی چه هغه دواړه د یو کاهن خواله لاړل. اُنیس د هغه کاهن صفت شروع کړو تر دے پورے چه په هغهٔ غالب راغے او مونږ د هغهٔ اوښان هم د خپلو اوښانو سره میلاؤ کړل او دا هم په دے حدیث کښې دی چه مونږ اوکړو حضرت ﷺ په مقام ابراهیم

[1] اُنیس یو شرط اولګوو هغه دا شرط وو چه دوه سړی دعوه اوکړی هر یو دا وائی چه زهٔ غوره یم بیا چه چا ته نجومی اووائی چه دا غوره دے هغه به د شرط مال اخلی دغه شان شرط اُنیسؓ د چا سره لګولے وو. او مال دا مقرر شو چه د اُنیس سره څومره اوښان دی هغه د ورکړی او دومره نور.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

عَنْ سَعْدٍ يَقُولُ مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَيٍّ يَمْشِي إِنَّهُ فِي الْجَنَّةِ إِلَّا لِعَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ

عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ كُنْتُ بِالْمَدِينَةِ فِي نَاسٍ فِيهِمْ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَجُلٌ فِي وَجْهِهِ أَثَرٌ مِنْ خُشُوعٍ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هٰذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ هٰذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ يَتَجَوَّزُ فِيهِمَا ثُمَّ خَرَجَ فَاتَّبَعْتُهُ فَدَخَلَ مَنْزِلَهُ وَدَخَلْتُ فَتَحَدَّثْنَا فَلَمَّا اسْتَأْنَسَ قُلْتُ لَهُ إِنَّكَ لَمَّا دَخَلْتَ قَبْلُ قَالَ رَجُلٌ كَذَا وَكَذَا قَالَ سُبْحَانَ اللهِ مَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ مَا لَا يَعْلَمُ وَسَأُحَدِّثُكَ لِمَ ذَاكَ رَأَيْتُ رُؤْيَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَصَصْتُهَا عَلَيْهِ رَأَيْتُنِي فِي رَوْضَةٍ ذَكَرَ سَعَتَهَا وَعُشْبَهَا وَخُضْرَتَهَا وَوَسْطَ الرَّوْضَةِ عَمُودٌ مِنْ حَدِيدٍ أَسْفَلُهُ فِي الْأَرْضِ وَأَعْلَاهُ فِي السَّمَاءِ فِي أَعْلَاهُ عُرْوَةٌ فَقِيلَ لِي ارْقَهْ فَقُلْتُ لَهُ لَا أَسْتَطِيعُ فَجَاءَنِي مِنْصَفٌ قَالَ ابْنُ عَوْنٍ وَالْمِنْصَفُ الْخَادِمُ فَقَالَ بِثِيَابِي مِنْ خَلْفِي وَصَفَ أَنَّهُ رَفَعَهُ مِنْ خَلْفِهِ بِيَدِهِ فَرَقِيتُ حَتَّى كُنْتُ فِي

باب : د عبد الله بن سلام رضی الله تعالی عنه فضیلت

د سعدؓ نه روایت دے وائی چه ما د رسول اللهﷺ نه د هیڅ یو ژوندی بنده په باره کښې چه هغه ګرځی راګرځی دا نه دی اوریدلی چه هغه په جنت کښې دے. مګر د عبد الله بن سلام دپاره.

د قیس بن عبادؓ نه روایت دے وائی چه زهٔ د مدینے په څهٔ خلقو کښې وم چه په هغے کښې څنے صحابهؓ هم وو چه یو سړے راغے او د هغهٔ په مخ باندے د الله د یرے اثر وو. څنے خلقو اووے چه دا جنتی دے دا جنتی دے. هغه دوه رکعته مونځ اوکړو او بیا روان شو. زهٔ هم د هغهٔ نه روستو روستو روان وم. هغه خپل کور ته ننوتو او زهٔ هم د هغهٔ سره د ننه لاړم او خبرے ئے کولے. هر کله چه زړهٔ اولګیدو ما هغهٔ ته اووے. تهٔ چه مخکښې جماعت ته راغلے وے نو یو سړی داسے داسے اووے (یعنی چه تهٔ جنتی ئے) هغهٔ اووے سبحان الله، هیچا له دا نهٔ دی پکار چه هغه خبره اوکړی چه په هغے نهٔ پوهیږی او زهٔ تا ته بیانوم چه خلق داسے ولے وائی ما د رسول اللهﷺ په زمانه کښې یو خوب لیدلے وو هغه خوب ما حضرتﷺ ته بیان کړو. ما لیدل چه زهٔ په یو باغ کښې یم (چه د هغے د وسعت او فراخئ حال او د پیداوار او د سبزئ حال هغه بیان کړو) د هغے باغ په مینځ کښې یوه ستنه ده د اوسپنے د هغے ویخ په زمکه کښې دننه دے. او سر ئے آسمان ته رسیدلے دے د هغے په سر باندے یوه حلقه ده. ما ته اووئیلے شو په دے باندے خیژه ما اووے زهٔ نهٔ شم ختلے بیا یو خدمتګار راغے هغهٔ څما کپړے د روستو نه اوچتولے او زهٔ ختلم تردے پورے

وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَلْفَ الْمَقَامِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَإِنِّي لَأَوَّلُ النَّاسِ حَيَّاهُ بِتَحِيَّةِ الْإِسْلَامِ قَالَ قُلْتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ مَنْ أَنْتَ وَفِي حَدِيثِهِ أَيْضًا فَقَالَ مُنْذُ كَمْ أَنْتَ هَاهُنَا قَالَ قُلْتُ مُنْذُ خَمْسَ عَشْرَةَ وَفِيهِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَتْحِفْنِي بِضِيَافَتِهِ اللَّيْلَةَ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا بَلَغَ أَبَا ذَرٍّ مَبْعَثُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ قَالَ لِأَخِيهِ ارْكَبْ إِلَى هَذَا الْوَادِي فَاعْلَمْ لِي عِلْمَ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ يَأْتِيهِ الْخَبَرُ مِنَ السَّمَاءِ فَاسْمَعْ مِنْ قَوْلِهِ ثُمَّ ائْتِنِي فَانْطَلَقَ الْآخَرُ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ وَسَمِعَ مِنْ قَوْلِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى أَبِي ذَرٍّ فَقَالَ رَأَيْتُهُ يَأْمُرُ بِمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ وَكَلَامًا مَا هُوَ بِالشِّعْرِ فَقَالَ مَا شَفَيْتَنِي فِيمَا أَرَدْتُ فَتَزَوَّدَ وَحَمَلَ شَنَّةً لَهُ فِيهَا مَاءٌ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ فَأَتَى الْمَسْجِدَ فَالْتَمَسَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا يَعْرِفُهُ وَكَرِهَ أَنْ يَسْأَلَ عَنْهُ حَتَّى أَدْرَكَهُ يَعْنِي اللَّيْلَ فَاضْطَجَعَ فَرَآهُ عَلِيٌّ فَعَرَفَ أَنَّهُ غَرِيبٌ فَلَمَّا رَآهُ تَبِعَهُ فَلَمْ يَسْأَلْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أَصْبَحَ ثُمَّ احْتَمَلَ قِرْبَتَهُ وَزَادَهُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَظَلَّ ذَلِكَ الْيَوْمَ وَلَا يَرَى

شاته دوه رکعته او زهٔ د ټولو نه اولنے سړے يم چا چه حضرت ﷺ له د مسلمانئ سلام اوکړو او اومے وئيل السلام عليکم يا رسول الله نو حضرت ﷺ اوفرمائيل و عليکم السلام او ته څوك ئے او په حديث کښې دا هم دی چه حضرت ﷺ اوفرمائيل ته د کوم وخت نه دلته يے نو ما اووے د پنځلسو ورځونه او په دے کښې دی چه ابوبکر ؓ اووئيل چه ما له عزت راکړه د دوی د ميلمستيا نه نن شپه

د عبد الله بن عباس ؓ نه روايت دے وائی هر کله چه ابوذر ؓ ته د رسول الله ﷺ د نبوت خبر په مکه کښې اورسيدو نو هغوی خپل رور ته اووے چه په سورلئ سور شه او لاړ شه هغه سړے اووينه کوم چه وائی چه ما ته د آسمان نه خبر راځی د هغهٔ خبرے واوره. بيا خما خواله راشه. هغه روان شو تردے پورے مکے ته راغے او د حضرت ﷺ کلام ئے واوريدهٔ او بيا د ابوذر ؓ خواله لاړو او ورته ئے اووے ما هغه سړے اوليدو هغه د ښه خصلتونو حکم کوی او يو قسم کلام اوره وی چه هغه شعر نهٔ دے ابوذر ؓ اووے په دے سره خما تسکين رانغے. بيا هغوی توشه واخسته او يو مشك ئے واخستو د اوبو تردے پوری چه مکے ته راغے او په مسجد حرام کښې داخل شو هلته ئے رسول الله ﷺ لټولو خو حضرت ﷺ ئے پيژندو نه او تپوس کول ئے هم مناسب نهٔ ګڼړل تردے پورے چه شپه شوه هغه سملاستهٔ. حضرت علی ؓ هغه اوليدو او اوئے پيژندو چه څوك مسافر دے. بيا په هغوی پسے شاته لاړو ليکن هيڅ يو د بل سره خبرے او نهٔ کړے تردے پورے چه سحر شو بيا هغه ~~خپله توښه~~ او مشك جماعت ته دننه راوړو او ټول ورځ ئے هلته تيره کړه او رسول الله ﷺ ئے اونهٔ ليدو د ماښام پورے. بيا هغه د خپلو اوده کيدو ځائے

أَعْلَى الْعَمُودِ فَأَخَذْتُ بِالْعُرْوَةِ فَقِيلَ لِي اسْتَمْسِكْ فَلَقَدِ اسْتَيْقَظْتُ وَإِنَّهَا لَفِي يَدِي فَقَصَصْتُهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تِلْكَ الرَّوْضَةُ الْإِسْلَامُ وَذَلِكَ الْعَمُودُ عَمُودُ الْإِسْلَامِ وَتِلْكَ الْعُرْوَةُ عُرْوَةُ الْوُثْقَى وَأَنْتَ عَلَى الْإِسْلَامِ حَتَّى تَمُوتَ قَالَ وَالرَّجُلُ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ

عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ كُنْتُ فِي حَلْقَةٍ فِيهَا سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ وَابْنُ عُمَرَ فَمَرَّ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ فَقَالُوا هَذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَقُمْتُ فَقُلْتُ لَهُ إِنَّهُمْ قَالُوا كَذَا وَكَذَا قَالَ سُبْحَانَ اللهِ مَا كَانَ يَنْبَغِي لَهُمْ أَنْ يَقُولُوا مَا لَيْسَ لَهُمْ بِهِ عِلْمٌ إِنَّمَا رَأَيْتُ كَأَنَّ عَمُودًا وُضِعَ فِي رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ فَنُصِبَ فِيهَا وَفِي رَأْسِهَا عُرْوَةٌ وَفِي أَسْفَلِهَا مِنْصَفٌ وَالْمِنْصَفُ الْوَصِيفُ فَقِيلَ لِيَ ارْقَهْ فَرَقِيتُ حَتَّى أَخَذْتُ بِالْعُرْوَةِ فَقَصَصْتُهَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمُوتُ عَبْدُ اللهِ وَهُوَ آخِذٌ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى

عَنْ خَرَشَةَ بْنِ الْحُرِّ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا فِي حَلْقَةٍ فِي مَسْجِدِ الْمَدِينَةِ قَالَ وَفِيهَا شَيْخٌ حَسَنُ الْهَيْئَةِ وَهُوَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ قَالَ فَجَعَلَ يُحَدِّثُهُمْ حَدِيثًا حَسَنًا قَالَ فَلَمَّا قَامَ

چه د هغې ستنې سر ته اورسيدم او هغه حلقه مې اونيوه ما ته اووئيلې شو دې لره اونيسه. بيا زۀ راويښ شوم او هغه حلقه د هغه وخته پورې خما په لاس کښې وه. دا خوب ما رسول الله ﷺ ته بيان کړو حضرت ﷺ اوفرمائيل هغه باغ خو اسلام دے او دغه ستن د اسلام ستن ده. او هغه حلقه د دين مضبوطه حلقه ده او تۀ به د اخرى سلګئ پورې په اسلام باندے قائم پاتې شے. قيس وائي هغه سړے عبد الله بن سلام وو.

د قيس بن عباد نه روايت دے وائي چه زۀ په يو تولى کښې وم چه په کښې سعد بن مالک او عبد الله بن عمر هم وو. چه په دے کښې عبد الله بن سلام راووتو. خلقو اووے دا د جنتيانو نه دے. زۀ پاڅيدم او ما هغوى ته اووے ستاسو په باره کښې خلق داسې وائي. هغوى اووے سبحان الله! دوى له هغه خبره کول نۀ دى پکار چه په هغې نۀ پوهيږى. ما په خوب کښې يوه ستن اوليده چه د يو شين باغ په مينځ کښې اودرولې شوې وه. د هغې په سر باندے يوه حلقه لګيدلې وه او د هغې لاندے يو خدمتګار ولاړ وو ما ته ئې اووے په دے باندے خيژه. زۀ اوختم تر دے پورې چه حلقه مې اونيوه. بيا ما دا خوب رسول الله ﷺ ته بيان کړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل عبد الله به د دغه مضبوطې حلقې د نيولو په حالت کښې وفات کيږى (يعنى په دين د اسلام باندې)

د خرشه بن حُر نه روايت دے وائي چه زۀ د مدينې په مسجد کښې په يوه حلقه کښې کيناستم. هلته يو ښائسته بوډا وو. او هغه عبد الله بن سلام وو هغه د خلقو سره ښې ښې خبرې کولې هر کله چه هغه پاڅيدو نو خلقو اووے چا ته چه د جنتى ليدل نيکى ښکارى هغه د

النَّبِيِّ صلى الله عليهِ وسلم حتى امسى فَعَادَ إلى مَضجَعِهِ فَمَرَّ بِهِ عَلِيٌّ فَقَالَ مَا أَنَى لِلرَّجُلِ أَنْ يَعْلَمَ مَنْزِلَهُ فَأَقَامَهُ فَذَهَبَ بِهِ معهُ ولا يسأَلُ وَاحِدٌ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ عَنْ شَيْءٍ حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمُ الثَّالِثِ فَعَلَ مِثْلَ ذٰلِكَ فَأَقَامَهُ عَلِيٌّ مَعَهُ ثُمَّ قَالَ لَهُ أَلَا تُحَدِّثُنِي مَا الَّذِي أَقْدَمَكَ هٰذَا الْبَلَدَ قَالَ إِنْ أَعْطَيْتَنِي عَهْدًا وَمِيثَاقًا لَتُرْشِدَنِّي فَعَلْتُ فَفَعَلَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ فَإِنَّهُ حَقٌّ وَهُوَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا أَصْبَحْتَ فَاتَّبِعْنِي فَإِنِّي إِنْ رَأَيْتُ شَيْئًا أَخَافُ عَلَيْكَ قُمْتُ كَأَنِّي أُرِيقُ الْمَاءَ فَإِنْ مَضَيْتُ فَاتَّبِعْنِي حَتَّى تَدْخُلَ مَدْخَلِي فَفَعَلَ فَانْطَلَقَ يَقْفُوهُ حَتَّى دَخَلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدَخَلَ مَعَهُ فَسَمِعَ مِنْ قَوْلِهِ وَأَسْلَمَ مَكَانَهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْجِعْ إِلَى قَوْمِكَ فَأَخْبِرْهُمْ حَتَّى يَأْتِيَكَ أَمْرِي فَقَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَصْرُخَنَّ بِهَا بَيْنَ ظَهْرَانِيهِمْ فَخَرَجَ حَتَّى أَتَى الْمَسْجِدَ فَنَادَى بِأَعْلَى صَوْتِهِ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَثَارَ الْقَوْمُ فَضَرَبُوهُ حَتَّى أَضْجَعُوهُ

ته راغے هلته حضرت علیؓ تیر شو او اونے ونیل اوس هغه وخت نۀ دے راغلے چه دے سړے ته د خپلو اوسیدو ځائے معلوم شی بیائے هغه اودروو او د هغۀ سره لاړو لیکن یو د بل سره خبرے نۀ کولے تردے پورے چه دریمه ورځ شوه په هغه ورځ ئے هم هغه شان اوکړل او حضرت علیؓ هغه د خپل ځان سره اودروو. او ورته ئے اووے تۀ ما ته ولے نۀ وائے د څۀ دپاره چه تۀ دے ښار ته راغلے ئے. ابوذرؓ اووے کچرے تۀ ځما سره وعده او اقرار کوے چه زۀ لاز ښائم نو زۀ وایم هغوی اقرار اوکړو. او ابوذر ورته ټول حال بیان کړو. حضرت علیؓ اووے هغه سړے رښتونے دے. او هغه بیشکه د الله رسول دے او تۀ سحر ځما سره لاړ شه. او کچرے زۀ څۀ د یرے خبره اووینم چه په هغے کښ ستاسو د مرګ یره وی نو زۀ به اودریږم لکه چه څوك اوبۀ بیهوی (متیازے کوی) او چه زۀ ځم نو تۀ هم په ما پسے روستو روستو راځه چرته چه زۀ ننۀځم نو تۀ هم په ما پسے راننۀځه ابوذر دغه شان اوکړل په هغۀ پسے شاته روان وو. تردے پورے چه حضرت علیؓ د رسول ﷺ خواته اورسیدو. او ابوذر هم دهغوی سره اورسیدو. بیا ابوذر د حضرت ﷺ خبرے واوریدے او په هغه ځائے مسلمان شو. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل د خپل قوم خواله لاړ شه او هغوی ته ددین خبر ورکوه تردے پورے چه ځم حکم تاته در اُورسی ابوذر اووے قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښ چه ځم اروح دے زۀ به دا خبره (یعنی ددین دعوت) مکے والاؤ ته په زوره سره واوروم. بیا ابوذر رااووتو او جماعت ته راغے او په چغه سره ئے اووے أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ. او خلقو په هغۀ باندے حمله اوکړه او هغه ئے په وهلو وهلو اوغورځوو. حضرت

قَالَ الْقَوْمُ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ
أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا قَالَ فَقُلْتُ وَاللَّهِ
لَأَتْبَعَنَّهُ فَلَأَعْلَمَنَّ مَكَانَ بَيْتِهِ قَالَ فَتَبِعْتُهُ
فَانْطَلَقَ حَتَّى كَادَ أَنْ يَخْرُجَ مِنَ الْمَدِينَةِ ثُمَّ
دَخَلَ مَنْزِلَهُ قَالَ فَاسْتَأْذَنْتُ عَلَيْهِ فَأَذِنَ لِي
فَقَالَ مَا حَاجَتُكَ يَا ابْنَ أَخِي قَالَ فَقُلْتُ لَهُ
سَمِعْتُ الْقَوْمَ يَقُولُونَ لَكَ لَمَّا قُمْتَ مَنْ
سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ
فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا فَأَعْجَبَنِي أَنْ أَكُونَ مَعَكَ قَالَ
اللَّهُ أَعْلَمُ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ وَسَأُحَدِّثُكَ مِمَّ قَالُوا
ذَاكَ إِنِّي بَيْنَمَا أَنَا نَائِمٌ إِذْ أَتَانِي رَجُلٌ فَقَالَ لِي
قُمْ فَأَخَذَ بِيَدِي فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ قَالَ فَإِذَا أَنَا
بِجَوَادَّ عَنْ شِمَالِي قَالَ فَأَخَذْتُ لِآخُذَ فِيهَا
فَقَالَ لِي لَا تَأْخُذْ فِيهَا فَإِنَّهَا طُرُقُ أَصْحَابِ
الشِّمَالِ قَالَ فَإِذَا جَوَادُّ مَنْهَجٌ عَلَى يَمِينِي
فَقَالَ لِي خُذْ هَاهُنَا فَأَتَى بِي جَبَلًا فَقَالَ لِي
اصْعَدْ قَالَ فَجَعَلْتُ إِذَا أَرَدْتُ أَنْ أَصْعَدَ
خَرَرْتُ عَلَى اسْتِي قَالَ حَتَّى فَعَلْتُ ذَلِكَ
مِرَارًا قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى أَتَى بِي عَمُودًا
رَأْسُهُ فِي السَّمَاءِ وَأَسْفَلُهُ فِي الْأَرْضِ فِي
أَعْلَاهُ حَلْقَةٌ فَقَالَ لِي اصْعَدْ فَوْقَ هَذَا قَالَ
قُلْتُ كَيْفَ أَصْعَدُ هَذَا وَرَأْسُهُ فِي السَّمَاءِ
قَالَ فَأَخَذَ بِيَدِي فَزَجَلَ بِي قَالَ فَإِذَا أَنَا

دۀ ته اوګوری ما (پخپل زړۀ کښ) اووے قسم په خدائے زۀ ددۀ سره خم او ددۀ کور وینمه بیا زۀ په هغۀ پسے شا ته روان وم او هغه روان وو تردے پورے چه د ښار نه بهر وتلو ته نژدے شو بیا هغه خپل کور ته لاړو. ما هم د دئه تلو اجازت اوغوښتو او هغوی اجازت راکړو. بیائے تپوس اوکړو اے خما ورارۀ! ستا څۀ کار دے. ما اووے ما د خلقو نه واوریدل څۀ وخت چه تاسو پاڅیدئ نو هغوی اووے چا ته چه ښۀ ښکاری د یو جنتی لیدل هغه د دۀ ته اوګوری. نو ما ته ښه معلوم شو ستاسو سره اوسیدل. هغوی اووے الله ته معلومه ده د جنتیانو. او زۀ تاته د خلقو ددے وینا وجه بیانوم. زۀ یو ځل اودۀ وم په خوب کښ یو سړے راغے. او هغۀ اوے پاڅه بیا هغه خما لاس اونیو. زۀ د هغۀ سره لاړم ما ته په ګس طرف څۀ لارے میلاؤ شوے. ما په هغه لارو تلل غوښتل هغۀ اووے په دے مۀ ځه دا د ګس طرف د خاوندانو لارے دی (یعنی د کافرانو) بیا د ښیٔ طرف لارے میلاؤ شوے. هغه سړی اووے په دے لارو ځه بیا یو غر میلاؤ شو. هغه سړی اووے په دے باندے خیژه. ما چه د ختلو اراده اوکړه نو د کناتو په سر رااوغورځیدم څو ځله ما د ختلو اراده اوکړه لیکن په هر ځل رااوغورځیدم. بیا زۀ هغه د ځان سره بوتلم تردے پورے چه یوه ستن مے اولیده چه د هغے سر په اسمان کښ وو او ویخ ئے په زمکه کښ. او د هغے دپاسه یوه حلقه لګیدلے وه. ما ته ئے اووے په دے ستنے باندے پورته خیژه. ما اووے په دے زۀ څنګه اوخیژم ددے سر خو په آسمان کښ دے آخر هغه سړی خما لاس اونیوۀ او اوئے خیژولم زۀ څۀ ګورم چه هغه حلقه مے نیولے ده زوړند شوے یم. بیا هغه سړی هغه ستن اووهله هغه پریوته او زۀ د

فَأَتَى الْعَبَّاسُ فَأَكَبَّ عَلَيْهِ فَقَالَ وَيْلَكُمْ أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنَّهُ مِنْ غِفَارٍ وَأَنَّ طَرِيقَ تُجَّارِكُمْ إِلَى الشَّامِ عَلَيْهِمْ فَأَنْقَذَهُ مِنْهُمْ ثُمَّ عَادَ مِنَ الْغَدِ بِمِثْلِهَا وَثَارُوا إِلَيْهِ فَضَرَبُوهُ فَأَكَبَّ عَلَيْهِ الْعَبَّاسُ فَأَنْقَذَهُ

عباس هلته راغے او په ابوذر باندے راپریوتو او خلقو ته ئے او خلقو ته ئے اووے هلاکت د وی تاسو لره تاسو دے نه پیژنئ چه دا سړے د غفار دے او ستاسو شام ته د سوداګیرئ لاره د غفار په ملك باندے ده (نو هغوی به ستاسو تجارت بند کړی) ابوذر په دویمه ورځ هم دغه شان اوکړل او خلقو را منډے کړے او اوئے وهلو او حضرت عباس د یو طرفه راغے او هغه ئے ترے آزاد کړو.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ

باب: د جریر بن عبد الله رضی الله تعالی عنه فضیلت

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا ضَحِكَ

د جریر بن عبد الله نه روایت دے وائی چه د کله نه زهٔ مسلمان شوے یم نو رسول الله ﷺ چرته هم د دننه راتلو نه منع کړے نهٔ یم او ما چرته هم حضرت ﷺ نهٔ دے لیدلے مګر په نرئ خندا کښ (یعنی په روړ مخ او فراخه تندی به خما سره میلاویدو)

عَنْ جَرِيرٍ قَالَ مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا تَبَسَّمَ فِي وَجْهِي زَادَ ابْنُ نُمَيْرٍ فِي حَدِيثِهِ عَنِ ابْنِ إِدْرِيسَ وَلَقَدْ شَكَوْتُ إِلَيْهِ أَنِّي لَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَضَرَبَ بِيَدِهِ فِي صَدْرِي وَقَالَ اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا

د جریر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ زهٔ چرته د ننه راتلو نه منع کړے نهٔ یم د کله نه چه زهٔ مسلمان شوے یم او هر کله به ئے چه زهٔ اولیدم نو د حضرت ﷺ په مخ به خندا وه. د ابن نمیر په حدیث کښ د ابوادریس په وخه دا زیاته ده چه ما حضرت ﷺ ته شکایت اوکړو، زهٔ په اس نهٔ شم ټینګیدے. حضرت ﷺ په لاس خما سینه اووهله او اوئے فرمائیل. یا الله ټینګ کړے دهٔ لره او دهٔ لره لارخودونکے لار موندونکے کړے.

عَنْ جَرِيرٍ قَالَ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ بَيْتٌ يُقَالُ لَهُ ذُو الْخَلَصَةِ وَكَانَ يُقَالُ لَهُ الْكَعْبَةُ الْيَمَانِيَةُ وَالْكَعْبَةُ الشَّامِيَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ أَنْتَ مُرِيحِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ وَالْكَعْبَةِ الْيَمَانِيَةِ

د جریر نه روایت دے وائی چه د جاهلیت په زمانه کښ یو بُت خانه وه (په یمن کښ) چه هغے ته به ئے ذوالخُلیفه وئیله او کعبه یمانی یا کعبه شامی د هغے نوم وو وائی چه رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائیل. اے جریره ته ما نهٔ بے فکره کوے د ذوالخلصه او کعبه یمانی او شامی د طرفه (یعنی هغے لره تباه او برباد کړه چه خلق د شرك نه بچ

مُتَعَلِّقٌ بِالْحَلْقَةِ قَالَ ثُمَّ ضَرَبَ الْعَمُودَ فَخَرَّ قَالَ وَبَقِيتُ مُتَعَلِّقًا بِالْحَلْقَةِ حَتَّى أَصْبَحْتُ قَالَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَصَصْتُهَا عَلَيْهِ فَقَالَ أَمَّا الطُّرُقُ الَّتِي رَأَيْتَ عَنْ يَسَارِكَ فَهِيَ طُرُقُ أَصْحَابِ الشِّمَالِ قَالَ وَأَمَّا الطُّرُقُ الَّتِي رَأَيْتَ عَنْ يَمِينِكَ فَهِيَ طُرُقُ أَصْحَابِ الْيَمِينِ وَأَمَّا الْجَبَلُ فَهُوَ مَنْزِلُ الشُّهَدَاءِ وَلَنْ تَنَالَهُ وَأَمَّا الْعَمُودُ فَهُوَ عَمُودُ الْإِسْلَامِ وَأَمَّا الْعُرْوَةُ فَهِيَ عُرْوَةُ الْإِسْلَامِ وَلَنْ تَزَالَ مُتَمَسِّكًا بِهَا حَتَّى تَمُوتَ

سحره پورې په هغه حلقه کښې زوړندوم (دد ے وجې نه چه د راکوزېدو څۀ ذریعه پاتې نۀ شوه، هر کله چه زۀ راویښ شوم نو د جناب رسول الله ﷺ خواله راغلم او هغوی ته مې دا خوب بیان کړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل کومې لارې چه تا د خان نه ګس طرفته اولیدلې هغه د ګس طرف د خاوندانو لارې دی. او کومې چه د ښی طرفته اولیدې هغه د ښی طرف د خاوندانو لارې دی. او غر چه وو نو هغه د شهیدانو درجه ده. تۀ هغې ته نۀ شې رسیدې او ستن د اسلام ستن ده. او حلقه د اسلام حلقه ده. نو تۀ به په اسلام باندې قائم پاتې شې د مرګه پورې (او هر کله چه خاتمه په اسلام باندې وی نو د جنت یقین کیدې شی دد ے وجې نه خلق ما ته جنتی وائی)

بَابُ فَضَائِلِ حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

باب : د حسان بن ثابت رضی الله تعالی عنه فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ عُمَرَ مَرَّ بِحَسَّانَ وَهُوَ يُنْشِدُ الشِّعْرَ فِي الْمَسْجِدِ فَلَحَظَ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ كُنْتُ أُنْشِدُ وَفِيهِ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَى أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ أَنْشُدُكَ اللهَ أَسَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَجِبْ عَنِّي اَللّٰهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ قَالَ اللّٰهُمَّ نَعَمْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه حضرت عمرؓ په حسان بن ثابتؓ باندې تیر شو. هغه په جماعت کښې اشعار لوستل (معلومه شوه چه ښکلی اشعار چه د اسلام د تعریف او د کافرانو د بدوالی یا د جهاد د ترغیب په جماعت کښې لوستل صحیح دی) حضرت عمرؓ د هغوی په طرف اوکتل حسانؓ اووې. ما خو به په جماعت کښې اشعار لوستل کله چه په جماعت کښې ستا نه غوره بنده موجود وو. بیائې د ابوهریرهؓ په طرف اوکتل او اونې وئیل زۀ تا ته په الله قسم درکوم تا د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیل به ئې خما د طرفه جواب ورکړه اے حسان: یا الله دده مدد اوکړه په روح القدس سره ابوهریرهؓ اووې ما اوریدلی دی.

عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ حَسَّانَ قَالَ فِي حَلْقَةٍ

د سعید بن المسیب نه روایت دے چه حسان بن ثابتؓ په یو مجلس

وَالشَّامِيَّةِ فَنَفَرْتُ إِلَيْهِ فِي مِائَةٍ وَخَمْسِينَ مِنْ أَحْمَسَ فَكَسَرْنَاهُ وَقَتَلْنَا مَنْ وَجَدْنَا عِنْدَهُ فَأَتَيْتُهُ فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ فَدَعَا لَنَا وَلِأَحْمَسَ

شي، ما یو نیم سل سړی د احمس قبیلے د خان سره کړل او لاړم او ذوالخلصه مے ماته کړه. او څومره خلق چه مے هلته موندۀ هغه مے قتل کړل بیا واپس راغلم او حضرت ﷺ ته مے بیان اوکړو. حضرت ﷺ خما دپاره او د احمس قبیلے دپاره دُعا اوکړه.

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا جَرِيرُ أَلَا تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ بَيْتٍ لِخَثْعَمَ كَانَ يُدْعَى كَعْبَةَ الْيَمَانِيَةِ قَالَ فَنَفَرْتُ فِي خَمْسِينَ وَمِائَةِ فَارِسٍ وَكُنْتُ لَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبَ يَدَهُ فِي صَدْرِي فَقَالَ اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا قَالَ فَانْطَلَقَ فَحَرَّقَهَا بِالنَّارِ ثُمَّ بَعَثَ جَرِيرٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُبَشِّرُهُ يُكْنَى أَبَا أَرْطَاةَ مِنَّا فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ مَا جِئْتُكَ حَتَّى تَرَكْنَاهَا كَأَنَّهَا جَمَلٌ أَجْرَبُ فَبَرَّكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خَيْلِ أَحْمَسَ وَرِجَالِهَا خَمْسَ مَرَّاتٍ

د جریر بن عبد الله بخلی رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائیل چه اے جریره ته ماله آرام نۀ راکوے د ذوالخلصه نه چه خثعم (یوه قبیله ده) بت خانه وه. هغے ته به ئے کعبه یمانی هم وئیله جریر وائی ما خان سره یو نیم سل سوارۀ واخستل او هلته لاړم او زۀ به په اس نۀ شوم ټینګیدے نو ما رسول الله ﷺ ته ددے بیان اوکړو. هغوی خپل لاس خما په سینه باندے اووهو او اوئے فرمائیل الله دے ټینګ کړه او دے لاره خودونکے او لارموندونکے جوړ کړے. بیا جریر رضی الله عنه لاړو او ذوالخلصه ئے په اُور اوسیزله. د سیزلو نه پس ئے یو سړے چه د هغۀ نوم ابوارطاة وو د زیری کولو دپاره په رسول الله ﷺ پسے اولیږو. هغه د حضرت ﷺ خواله راغے او اوئے وئیل چه مونږه ذوالخلصه د خارښتی اوښ پشان پریخوده او راغلو (په خارښتی اوښ باندے تور تیل مږی. مطلب دا دے چه هغه هم د سیزلو سره توره شوے وه) رسول الله ﷺ د احمس د اسونو او سړو دپاره د برکت دُعا اوکړه پنځۀ پیرے

عَنْ إِسْمَعِيلَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي حَدِيثِ مَرْوَانَ فَجَاءَ بَشِيرُ جَرِيرٍ أَبُو أَرْطَاةَ حُصَيْنُ بْنُ رَبِيعَةَ يُبَشِّرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د اسماعیل نه په دے اسناد سره روایت دے او د مروان (راوی) په حدیث کښں دی چه د جریر د طرفنه ابوارطاة زیری اوړولو والاراغے او رسول الله ﷺ ته زیرے واوروو.

بَابُ فَضَائِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

باب : د عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنه فضیلت

فِيهِمْ أَبُو هُرَيْرَةَ أَنْشُدُكَ اللهَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَسَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ

کښې اووے چه په هغے کښې ابوهریرهؓ هم وو چه اے ابوهریره! زهٔ تاسو له د خدائے قسم درکوم تاسو اورېدلی دی د رسول اللهﷺ نه (مخکښې مضمون) د پورتنی حدیث پشان ئے بیان کړو.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ سَمِعَ حَسَّانَ بْنَ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيَّ يَسْتَشْهِدُ أَبَا هُرَيْرَةَ أَنْشُدُكَ اللهَ هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَا حَسَّانُ أَجِبْ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَعَمْ

د ابوسلمه بن عبد الرحمنؓ نه روایت دے چه هغوی اورېدلی دی د حسان بن ثابت انصاریؓ نه چه هغه ابوهریرهؓ له گواه کولو چه زهٔ تاته په الله قسم درکوم تا د رسول اللهﷺ نه اورېدلی دی چه حضرتﷺ به فرمائیل اے حسانه! د رسول اللهﷺ د طرفنه جواب ورکړه. یا الله مدد اوکړه د حسان په روح القدوس سره ابوهریرهؓ اووے آو ما اورېدلی دی.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ اهْجُهُمْ أَوْ هَاجِهِمْ وَجِبْرِيلُ مَعَكَ

د براء بن عازبؓ نه روایت دے وائی چه ما د رسول اللهﷺ نه واورېدل چه حسان بن ثابتؓ ته ئے فرمائیل. د کافرانو هجوه کوه او جبرائیل ستاسره دے.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د شعبه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ حَسَّانَ بْنَ ثَابِتٍ كَانَ مِمَّنْ كَثَّرَ عَلَى عَائِشَةَ فَسَبَبْتُهُ فَقَالَتْ يَا ابْنَ أُخْتِي دَعْهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عروه بن زبیرؓ نه روایت دے چه حسان بن ثابتؓ ډیرے خبرے اوکړے د حضرت عائشےؓ سره ما هغے ته بد اووے. حضرت عائشےؓ اووے پرېږده اے خما وراره! ولے چه حسان به جواب ورکولو (کافرانو ته) د رسول اللهﷺ د طرفنه

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ وَعِنْدَهَا حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ يُنْشِدُهَا شِعْرًا يُشَبِّبُ بِأَبْيَاتٍ لَهُ فَقَالَ:

د هشام نه په دے اسناد سره هم داسے روایت دے د مسروق نه هغوی وائی چه زهٔ د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ خواله لاړم د هغوی په خواه کښې حسان بن ثابتؓ ناست وو یو شعر ئے اورولو د خپلو ابیاتو نه هغه داد ے

حَصَانٌ رَزَانٌ مَا تُزَنُّ بِرِيبَةٍ
وَتُصْبِحُ غَرْثَى مِنْ لُحُومِ الْغَوَافِلِ

پاک دی او عقل والا په دوی څهٔ تهمت نشته
سحر پاځیری وږی د غافل غوښو خوړولو نه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى الْخَلَاءَ فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا فَلَمَّا خَرَجَ قَالَ مَنْ وَضَعَ هٰذَا فِي رِوَايَةِ زُهَيْرٍ قَالُوا وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ قُلْتُ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ اللّٰهُمَّ فَقِّهْهُ

د عبدالله بن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ پانخانے ته تشریف یوړلو ما د حضرت ﷺ دپاره د اودس اوبۀ کیښودے. حضرت چه هر کله رااووتو نو تپوس ئے اوکړو دا اوبۀ چا ایخودی دی خلقو اووے یا ما اووے چه دا ابن عباس ایخودی دی حضرت ﷺ اوفرمائیل یا الله دۀ لره په دین کښ پوهه ورکړے.

بَابُ فِقْهُ فَضَائِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

باب: د عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنه فضیلت

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ فِي يَدِي قِطْعَةَ إِسْتَبْرَقٍ وَلَيْسَ مَكَانٌ أُرِيدُ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا طَارَتْ إِلَيْهِ قَالَ فَقَصَصْتُهُ عَلَى حَفْصَةَ فَقَصَّتْهُ حَفْصَةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَى عَبْدَ اللهِ رَجُلًا صَالِحًا

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه په خوب کښ مے اولیدل چه زما په لاس کښ د استبرق یوه ټکړه ده (استبرق یوه ریښمی کپړه ده) او زۀ چه په جنت کښ کوم کور ته تلل غواړم هغه ټکړه ما په هوا هلته بوځی. دا خوب ما خپلے خور د مؤمنانو مور حضرت حفصے ته بیان کړه او هغوی رسول الله ﷺ ته بیان کړو. حضرت اوفرمائیل عبد الله زۀ پیژنم نیک سړے دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ ﷺ إِذَا رَأَى رُؤْيَا قَصَّهَا عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَتَمَنَّيْتُ أَنْ أَرَى رُؤْيَا أَقُصُّهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَكُنْتُ غُلَامًا شَابًّا عَزَبًا وَكُنْتُ أَنَامُ فِي الْمَسْجِدِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَرَأَيْتُ فِي النَّوْمِ كَأَنَّ مَلَكَيْنِ أَخَذَانِي فَذَهَبَا بِي إِلَى النَّارِ فَإِذَا هِيَ مَطْوِيَّةٌ كَطَيِّ الْبِئْرِ وَإِذَا لَهَا قَرْنَانِ كَقَرْنَيِ الْبِئْرِ وَإِذَا فِيهَا نَاسٌ قَدْ عَرَفْتُهُمْ فَجَعَلْتُ أَقُولُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ قَالَ فَلَقِيَهُمَا مَلَكٌ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ په ژوند کښ چه به چا څۀ خوب اولیدۀ نو حضرت ته به ئے بیانوۀ. او زۀ خوان هلك وم یواخی په جماعت کښ به اودۀ کیدم د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښ. ما خوب اولیدو چه دوه فرښتو زۀ نیولے یم او د جهنم په طرف ئے بوتلمه څۀ ګورم چه هغه پیچ درپیچ ژور دے د کوهی پشان او په هغے باندے دوه لرګی دی لکه څنګه چه په کوهی باندے وی. په هغے کښ څۀ خلق وو چه هغه ما اوپیژندل. ما دا وینا شروع کړه. چه په الله سره پناه غواړم د جهنم نه. په الله سره پناه غواړم د جهنم نه. بیا را ته یوه بله فرښته میلاؤ شو او

فَقَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ لٰكِنَّكَ لَسْتَ كَذٰلِكَ قَالَ مَسْرُوقٌ فَقُلْتُ لَهَا لِمَ تَأْذَنِينَ لَهُ يَدْخُلُ عَلَيْكِ وَقَدْ قَالَ اللهُ وَالَّذِي تَوَلّٰى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ فَقَالَتْ فَأَيُّ عَذَابٍ أَشَدُّ مِنَ الْعَمٰى إِنَّهُ كَانَ يُنَافِحُ أَوْ يُهَاجِي عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

(يعني د چا غيبت نۀ كوى ولے چه غيبت كول د هغۀ غوښے خوړل دى) نو حضرت عائشےؓ حسانؓ ته اووے ليكن ته داسے نۀ يے (يعني ته د خلقو غيبت كوے) مسروق وائى ما حضرت عائشےؓ ته اووے. تاسو حسان خپلے خواته ولے پريږدئ حالانكه الله تعالى د هغۀ په شان كښ فرمائى: وَالَّذِي تَوَلّٰى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ يعنى كوم سړى د هغوى نه چه بيړا اوچته كړه د لوئے خبرے (يعنى په حضرت عائشےؓ باندے د تهمت لګولو) د هغۀ دپاره لوئے عذاب دے (حسان بن ثابتؓ په هغه خلقو كښ شريك وو چا چه په حضرت عائشےؓ باندےتهمت لګولے وو. بيا حضرتﷺ په هغوى باندے حد جارى كړو. حضرت عائشےؓ اووے ددے نه زيات عذاب به څۀ وى چه هغه ړوند شو. او اوئے وئيل چه حسان به جواب وركول يا به ئے د كافرانو هجوه كوله د رسول اللهﷺ د طرفه.

عَنْ شُعْبَةَ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ قَالَتْ كَانَ يَذُبُّ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَلَمْ يَذْكُرْ حَصَانٌ رَزَانٌ

د شعبه د په دےاسناد سره روايت دے چه حضرت عائشےؓ اوفرمائيل چه حسان به د رسول اللهﷺ دفاع كوله او په دے شعر كښ حسان رزان نشته

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ حَسَّانُ يَا رَسُولَ اللهِ ائْذَنْ لِي فِي أَبِي سُفْيَانَ قَالَ كَيْفَ بِقَرَابَتِي مِنْهُ قَالَ وَالَّذِي أَكْرَمَكَ لَأَسُلَّنَّكَ مِنْهُمْ كَمَا تُسَلُّ الشَّعْرَةُ مِنَ الْخَمِيرِ فَقَالَ حَسَّانُ: وَإِنَّ سَنَامَ الْمَجْدِ مِنْ آلِ هَاشِمٍ بَنُو بِنْتِ مَخْزُومٍ وَوَالِدُكَ الْعَبْدُ

د حضرت عائشےؓ نه روايت دے وائى چه حسان اووے يا رسول اللهؐ ما له د ابوسفيان د هجوے كولو اجازت راكړه (د ابوسفيان د حارث بن عبد المطلب خوئ وو او د اسلام د راوړو نه مخكښ به ئے د حضرتﷺ هجوه كوله دا د حضرتﷺ د تره خوئ وو) حضرتﷺ اوفرمائيل هغه خو خما په خپلولئ كښ دے. حسان اووے قسم دے په هغه ذات چا چه تالره عزت دركړے دے زۀ به تالره د هغوى نه داسے اوباسم لكه ويښته چه د وړو نه وېستلے شى. بيا حسان دا

فقال لي لم ترع فقصصتها على حفصة فقصتها حفصة على رسول الله ﷺ فقال النبي صلى الله عليه وسلم نعم الرجل عبد الله لو كان يصلي من الليل قال سالم فكان عبد الله بعد ذلك لا ينام من الليل إلا قليلا

هغې اووے تاله څۀ يره نشته. دا خوب ما حضرت حفصې ؓ ته بيان کړو او هغوی رسول الله ﷺ ته بيان کړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل عبد الله ؓ ښه سړے دے کچرے د شپې ئے تهجد کولے. سالم وائی عبد الله به د هغے نه پس د شپې نه اوده کيدو مګر لږ ساعت (دا چه تهجد به ئے کولو)

عن ابن عمر قال كنت أبيت في المسجد ولم يكن لي أهل فرأيت في المنام كأنما انطلق بي إلى بئر فذكر عن النبي ﷺ بمعنى حديث الزهري عن سالم عن أبيه

د ابن عمرؓ نه روايت دے چه زۀ به په جُماعت کښې اوده ريدم او زۀ وادۀ کړے نۀ وم. نو ما په خوب کښې اوليدل چه لکه زۀ يو کوهي ته بوتلے شوم. مخکښې حديث هغه شان بيان کړو لکه چه زهری د سالم نه او هغوی د خپل پلار عبدالله نه بيان کړو.

باب من فضائل أنس بن مالك

باب : د انس بن مالك رضی الله عنه فضيلت

عن أم سليم أنها قالت يا رسول الله خادمك أنس ادع الله له فقال اللهم أكثر ماله وولده وبارك له فيما أعطيته

د اُم سليمؓ نه روايت دے چه هغوی اووے يا رسول الله ! انس ستاسو خادم دے د هغۀ دپاره دُعا اوفرمايئ. حضرت ﷺ اوفرمائيل يا الله ډير مال او ډير اولاد انسؓ له ورکړه. او څۀ چه تۀ هغۀ له ورکړے نو برکت کړه په هغے کښې.

عن أنس يقول قالت أم سليم يا رسول الله خادمك أنس فذكر نحوه

د انسؓ نه روايت دے چه اُم سليم اووئيل. يا رسول الله! انسؓ ستاسو خادم دے. بيا د پورتنی حديث پشان ئے بيان کړو.

عن أنس بن مالك يقول مثل ذلك

د انس بن مالكؓ نه دغسے روايت دے.

عن أنس قال دخل النبي صلى الله عليه وسلم علينا وما هو إلا أنا وأمي وأم حرام خالتي فقالت أمي يا رسول الله خويدمك ادع الله له قال فدعا لي بكل خير وكان في آخر ما دعا لي به أن قال اللهم أكثر ماله وولده وبارك له فيه

د انسؓ نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ زمونږ کورته تشريف راوړو. هغه وخت په کور کښې څوك نۀ وو سوا څما نه او څما د مور اُم سليمؓ او څما د ترور اُم حرام نه څما مور اووے يا رسول الله! د خپل ورکوتی خادم (انس) دپاره دُعا اوغواړئ. حضرت ﷺ دُعا اوغوښته د هرے يوے نيکئ دپاره. او په آخر کښې ئے دا دُعا اوغوښته. يا الله ډير کړه د هغۀ مال او ډير کړه د هغۀ اولاد او برکت کړه په هغے کښې.

شعر اووے. وَإِنَّ سَنَامَ الْمَجْدِ مِنَ آلِ هَاشِمٍ * بَنُو بِنْتِ مَخْزُومٍ وَوَالِدُكَ الْعَبْدُ[1]

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ قَالَتْ اسْتَأْذَنَ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هِجَاءِ الْمُشْرِكِينَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَبَا سُفْيَانَ وَقَالَ بَدَلَ الْخَمِيرِ الْعَجِينِ

د هشام بن عروه په دے اسناد سره روایت دے چه حضرت عائشےؓ اووے چه حسان د نبی کریم ﷺ نه د مشرکینو د هجوے کولو اجازت اوغوختۀ. په دےکښې د ابوسفیان ذکر نشته. او د خمیر په ځائے د عجین لفظ دے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اهْجُوا قُرَيْشًا فَإِنَّهُ أَشَدُّ عَلَيْهَا مِنْ رَشْقٍ بِالنَّبْلِ فَأَرْسَلَ إِلَى ابْنِ رَوَاحَةَ فَقَالَ اهْجُهُمْ فَهَجَاهُمْ فَلَمْ يُرْضِ فَأَرْسَلَ إِلَى كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ قَالَ حَسَّانُ قَدْ آنَ لَكُمْ أَنْ تُرْسِلُوا إِلَى هَذَا الأَسَدِ الضَّارِبِ بِذَنَبِهِ ثُمَّ أَدْلَعَ لِسَانَهُ فَجَعَلَ يُحَرِّكُهُ فَقَالَ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لأَفْرِيَنَّهُمْ بِلِسَانِي فَرْيَ الأَدِيمِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَعْجَلْ فَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ أَعْلَمُ قُرَيْشٍ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل هجوه کوئ د قریشو ولے چه هجوه په هغوی ډیره بده لګی د غشو د باران نه بیا حضرت یو سړے په ابن رواحه پسے اولیږلو او ورته ئے اوفرمائیل چه هجوه کوه د قریشو هغه هجوه اوکړه. لیکن حضرتﷺ غوره نۀ کړه. بیائے کعب بن مالکؓ ته اولیږلو او بیائے په حسان بن ثابت پسے اولیږلو. هر کله چه حسان د حضرتﷺ خواله راغے. نو هغوی اووے. تالره راغے هغه وخت چه تا قاصد اولیږلو په هغه مزری پسے چه هغه په خپله لکئ وهل کوی (یعنی په ژبه سره خلق قتلوی لکه په میدان د فصاحت او شعرونیلو کښې مزرے دے) بیائے خپله ژبه بهر ته رااوویسته او هغه ئے خوزوله او عرض ئے اوکړو قسم دے په هغه ذات چا چه ته په رښتونے پیغمبر رالیږلے ئے چه زۀ به کافرانو لره په خپله ژبه داسے اوشلوم لکه څنګه

[1] د حضرت معلب دا وو چه ابوسفیان خما د ترۀ خوئ دے او ته د هغه هجوه کوے نو دا خو خما هم جهوه کیدے شی خکه چه خما او د هغه نیکۀ یو دے حسان اووے زۀ به تاسو بچ کړم او د هغه هجوه به اوکړم دا پوره شعر د حسان د یوے قصیدے دے چه د ابوسفیان په هجوه کښې ئے ونیلے وو چه ترجمه ئے داده یعنی بزرګی او شرافت د هاشم په اولاد کښې د مخزوم د خامنو دے، او فاطمه بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم وه چه مور وه د عبد الله، او زبیر او ابوطالب او ستا پلار خو غلام وو ولے چه د حارث مور سمیه لور د موهب وه او موهب د عبد مناف غلام وو او د ابوسفیان مور رهم وینخه وه او د دغه شعر نه روستو دا شعر دے

مَنْ وَلَدَتْ أَبْنَاءُ زُهْرَةَ مِنْهُمْ كِرَامٌ وَلَمْ يَقْرُبْ عَجَائِزَكَ الْمَجْدُ

یعنی شریفے هغه دی کومے چه د زهره لونړه دی د بنی هاشم نه او د زهره نه مراد هاله لور د وهب بن عبد مناف ده او د حمزه او صفیے مور او ستاسو د بوډئ ګانو سره شرافت نه نږدے شوی هم نۀ دی

عَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَتْ بِي أُمِّي أُمُّ أَنَسٍ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أَزَّرَتْنِي بِنِصْفِ خِمَارِهَا وَ رَدَّتْنِي بِنِصْفِهِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ هٰذَا أُنَيْسٌ ابْنِي أَتَيْتُكَ بِهِ يَخْدُمُكَ فَادْعُ اللهَ لَهُ فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ قَالَ أَنَسٌ فَوَاللهِ إِنَّ مَالِي لَكَثِيرٌ وَإِنَّ وَلَدِي وَوَلَدَ وَلَدِي لَيَتَعَادُّونَ عَلَى نَحْوِ الْمِائَةِ الْيَوْمَ

روایت دے وائی چه خما مور زهٔ د رسول الله ﷺ خواله راوستم او خپل پړونے (څادر یا لوپټه) ئے اوشلوله د نیمے نه ئے ماله لنګ اووهو او نیمے ئے ماله څادر کړو نو اوئے وئیل یا رسول الله ﷺ دا وړوکے انس خما خوئ دے ستاسو خدمت به کوی تاسو ددهٔ دپاره دُعا اوکړئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل یاالله ددهٔ مال او ددهٔ اولاد ډیر کړه انس وائی نو په الله قسم دے خما مال ډیر دے او خما خامن او نمسي د سلو نه زیات دی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَسَمِعَتْ أُمِّي أُمُّ سُلَيْمٍ صَوْتَهُ فَقَالَتْ بِأَبِي وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ أُنَيْسٌ فَدَعَا لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ دَعَوَاتٍ قَدْ رَأَيْتُ مِنْهَا اثْنَتَيْنِ فِي الدُّنْيَا وَأَنَا أَرْجُو الثَّالِثَةَ فِي الْآخِرَةِ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ تیر شو نو خما مور اُم سلیم د حضرت ﷺ آواز واوریدو. او ورته ئے اوئیل خما پلار مور دِ ستا نه قربان شی دا وړوکے انس دے. حضرت ﷺ خما دپاره درے ځله دُعا اوکړه دوه خو مے په دنیا کښ اوموندلے او د دریمے مے په آخرت کښ اُمید دے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَتَى عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ قَالَ فَسَلَّمَ عَلَيْنَا فَبَعَثَنِي إِلَى حَاجَةٍ فَأَبْطَأْتُ عَلَى أُمِّي فَلَمَّا جِئْتُ قَالَتْ مَا حَبَسَكَ قُلْتُ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَاجَةٍ قَالَتْ مَا حَاجَتُهُ قُلْتُ إِنَّهَا سِرٌّ قَالَتْ لَا تُحَدِّثَنَّ بِسِرِّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدًا قَالَ أَنَسٌ وَاللهِ لَوْ حَدَّثْتُ بِهِ أَحَدًا لَحَدَّثْتُكَ يَا ثَابِتُ

د انس رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ خما خواله تشریف راوړو او ما د هلکانو سره لوبے کولے. حضرت ﷺ مونږ ته سلام اوکړو. بیائے زهٔ د څهٔ کار دپاره اولیږلم. زهٔ د خپلے مور خواله ناوخت لاړم. هر کله چه لاړم نو خما مور اووے تا ولے ناوخته کړو. ما اووے چه رسول الله ﷺ زهٔ د څهٔ کار دپاره لیږلے وم هغے اووے څهٔ کار وو ما اووے هغه راز وو. خما مور اووے. د رسول الله ﷺ راز هیچا ته مهٔ وایه. انس رضی الله عنه اووے. په الله قسم دے کچرے هغه راز ما چاته وئیلے نو اے ثابته تاته به مے وئیلے وو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَسَرَّ إِلَيَّ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِرًّا فَمَا أَخْبَرْتُ بِهِ أَحَدًا بَعْدُ وَلَقَدْ سَأَلَتْنِي عَنْهُ أُمُّ سُلَيْمٍ فَمَا أَخْبَرْتُهَا بِهِ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د رازیوه خبره ماته اوکړه ما هغه هیڅا ته نهٔ ده بیان کړے تر دے پورے چه خما مور اُم سلیم رضی الله عنها خما نه تپوس اوکړو او ما هغے ته هم بیان نهٔ کړو

بِأَنْسَابِهَا وَإِنَّ لِيَ فِيهِمْ نَسَبًا حَتَّى يُلَخِّصَ لَكَ نَسَبِي فَأَتَاهُ حَسَّانُ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ لَخَّصَ لِي نَسَبَكَ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَأَسُلَّنَّكَ مِنْهُمْ كَمَا تُسَلُّ الشَّعْرَةُ مِنَ الْعَجِينِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ إِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ لَا يَزَالُ يُؤَيِّدُكَ مَا نَافَحْتَ عَنِ اللهِ وَرَسُولِهِ وَقَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هَجَاهُمْ حَسَّانُ فَشَفَى وَاشْتَفَى قَالَ حَسَّانُ:

هَجَوْتَ مُحَمَّدًا فَأَجَبْتُ عَنْهُ
وَعِنْدَ اللهِ فِي ذَاكَ الْجَزَاءُ
هَجَوْتَ مُحَمَّدًا بَرًّا تَقِيًّا
رَسُولَ اللهِ شِيمَتُهُ الْوَفَاءُ
فَإِنَّ أَبِي وَوَالِدَهُ وَعِرْضِي
لِعِرْضِ مُحَمَّدٍ مِنْكُمْ وِقَاءُ
ثَكِلْتُ بُنَيَّتِي إِنْ لَمْ تَرَوْهَا
تُثِيرُ النَّقْعَ مِنْ كَنَفَيْ كَدَاءُ
يُبَارِينَ الْأَعِنَّةَ مُصْعِدَاتٍ
عَلَى أَكْتَافِهَا الْأَسَلُ الظِّمَاءُ
تَظَلُّ جِيَادُنَا مُتَمَطِّرَاتٍ
تُلَطِّمُهُنَّ بِالْخُمُرِ النِّسَاءُ

چه خرمن څلولے شي. رسول الله ﷺ اوفرمائيل اے حسانه! تادي مکوه ولے چه ابوبکر ته د قريشو نسب معلوم دے. او څما هم نسب د قريشو نه دے. نو هغوی به څما نسب تاته جدا کړي بيا حسان د ابوبکر خواله راغے. د هغهٔ نه چه واپس شو نو عرض ئے اوکړو يا رسول الله! ابوبکر ستاسو نسب ماته بيان کړو. قسم دے په هغه رب چه تهٔ ئے په رښتونے پيغمبر راليږلے ئے چه به تاسو د قريشو نه داسے اوباسم لکه وېښتهٔ چه د اوړونه لرے کولے شي. حضرت عائشه وائي ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو. حسانه ستاسره به جبرائيل امين همېشه مدد کوي د کومې پورے چه تهٔ د الله او د هغهٔ د رسول د طرفنه جواب ورکوے. او حضرت عائشے وئيلي دي چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو. حسان د قريشو هجوه اوکړه نو تسکين راغے د مؤمنانو زړونو ته او د کافرانو عزتونه ئے تباه کړل حسان وائي (هغه شعرونو لره د هغے ترجمه داده)

۱. تا د محمد بد اووے. ما د هغے جواب ورکړو. او الله تعالی به ئے بدله راکوي.

۲. تا د محمد بد اووے چه نيک او پرهيزګاره دے د الله تعالی رسول دے. وفا داري د هغوی خصلت دے.

۳. څما مور او پلار او څما عزت د محمد د عزت بچ کولو د پاره صدقه دي.

۴. څما لونړه د يتيمانے شي کچرے تهٔ نهٔ ګورے دے ته چه الوزوي دوړه د کداء د دواړي طرفونو نه (کداء يو کنډو دے د مکے په دروازه باندے)

۵. داسے اوښانے چه هغه په تيښته کښې زور کوي په خپل قوت او

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

عَنْ سَعْدٍ يَقُولُ مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَيٍّ يَمْشِي إِنَّهُ فِي الْجَنَّةِ إِلَّا لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ

عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ كُنْتُ بِالْمَدِينَةِ فِي نَاسٍ فِيهِمْ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَجُلٌ فِي وَجْهِهِ أَثَرٌ مِنْ خُشُوعٍ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هٰذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ هٰذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ يَتَجَوَّزُ فِيهِمَا ثُمَّ خَرَجَ فَاتَّبَعْتُهُ فَدَخَلَ مَنْزِلَهُ وَدَخَلْتُ فَتَحَدَّثْنَا فَلَمَّا اسْتَأْنَسَ قُلْتُ لَهُ إِنَّكَ لَمَّا دَخَلْتَ قَبْلُ قَالَ رَجُلٌ كَذَا وَكَذَا قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ مَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ مَا لَا يَعْلَمُ وَسَأُحَدِّثُكَ لِمَ ذَاكَ رَأَيْتُ رُؤْيَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَصَصْتُهَا عَلَيْهِ رَأَيْتُنِي فِي رَوْضَةٍ ذَكَرَ سَعَتَهَا وَعُشْبَهَا وَخُضْرَتَهَا وَوَسْطَ الرَّوْضَةِ عَمُودٌ مِنْ حَدِيدٍ أَسْفَلُهُ فِي الْأَرْضِ وَأَعْلَاهُ فِي السَّمَاءِ فِي أَعْلَاهُ عُرْوَةٌ فَقِيلَ لِي ارْقَهْ فَقُلْتُ لَهُ لَا أَسْتَطِيعُ فَجَاءَنِي مِنْصَفٌ قَالَ ابْنُ عَوْنٍ وَالْمِنْصَفُ الْخَادِمُ فَقَالَ بِثِيَابِي مِنْ خَلْفِي وَصَفَ أَنَّهُ رَفَعَهُ مِنْ خَلْفِهِ بِيَدِهِ فَرَقِيتُ حَتَّى كُنْتُ فِي

باب: د عبد الله بن سلام رضی الله تعالی عنه فضیلت

د سعد ؓ نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه د هیڅ یو ژوندی بنده په باره کښې چه هغه ګرځی راګرځی دا نه دی اوریدلی چه هغه په جنت کښې دے. مګر د عبد الله بن سلام دپاره.

د قیس بن عباد ؓ نه روایت دے وائی چه زهٔ د مدینے په څهٔ خلقو کښې وم چه په هغې کښې ځنې صحابه ؓ هم وو چه یو سړے راغلے او د هغهٔ په مخ باندے د الله د یرے اثر وو. ځنې خلقو اووے چه دا جنتی دے دا جنتی دے. هغه دوه رکعته مونځ اوکړو او بیا روان شو. زهٔ هم د هغهٔ نه روستو روستو روان وم. هغه خپل کور ته ننوتو او زهٔ هم د هغهٔ سره د ننه لاړم او خبرے ئے کولے. هر کله چه زړهٔ اولګیدو ما هغهٔ ته اووے. ته چه مخکښې جماعت ته راغلے وے نو یو سړی داسے داسے اووے (یعنی چه ته جنتی ئے) هغهٔ اووے سبحان الله، هیچا له دا نهٔ دی پکار چه هغه خبره اوکړی چه په هغې نهٔ پوهیږی او زهٔ تا ته بیانوم چه خلق داسے ولے وائی ما د رسول الله ﷺ په زمانه کښې یو خوب لیدلے وو هغه خوب ما حضرت ﷺ ته بیان کړو. ما لیدل چه زهٔ په یو باغ کښې یم (چه د هغے د وسعت او فراخئ حال او د پیداوار او د سبزئ حال هغه بیان کړو) د هغے باغ په مینځ کښې یوه ستنه ده د اوسپنے د هغے ویخ په زمکه کښې دننه دے. او سر ئے آسمان ته رسیدلے دے د هغے په سر باندے یوه حلقه ده. ما ته اووئیلے شو په دے باندے خیژه ما اووے زهٔ نهٔ شم ختلے بیا یو خدمتګار راغے هغهٔ څما کپړے د روستو نه اوچتولے او زهٔ ختلم تردے پورے

فَإِنْ أَعْرَضْتُمُو عَنَّا اعْتَمَرْنَا
وَكَانَ الْفَتْحُ وَانْكَشَفَ الْغِطَاءُ
وَإِلَّا فَاصْبِرُوا لِضِرَابِ يَوْمٍ
يُعِزُّ اللهُ فِيهِ مَنْ يَشَاءُ
وَقَالَ اللهُ قَدْ أَرْسَلْتُ عَبْدًا
يَقُولُ الْحَقَّ لَيْسَ بِهِ خَفَاءُ
وَقَالَ اللهُ قَدْ يَسَّرْتُ جُنْدًا
هُمُ الْأَنْصَارُ عُرْضَتُهَا اللِّقَاءُ
لَنَا فِي كُلِّ يَوْمٍ مِنْ مَعَدٍّ
سِبَابٌ أَوْ قِتَالٌ أَوْ هِجَاءُ
فَمَنْ يَهْجُو رَسُولَ اللهِ مِنْكُمْ
وَيَمْدَحُهُ وَيَنْصُرُهُ سَوَاءُ
وَجِبْرِيلٌ رَسُولُ اللهِ فِينَا
وَرُوحُ الْقُدُسِ لَيْسَ لَهُ كِفَاءُ

طاقت سره په پوره خيژي. د هغوى په متو باندے هغه غشى دى چه هغه نرى دى يا د وينے ترى دى.

٦. او زمونږ اسونه په منډو منډو راځى او د هغوى مخونه زنانه پاكوى په خپلو لوپټو سره.

٧. كچرے تاسو مونږ ته څۀ نۀ وايئ نو مونږه به عمره اوكړو او فتح به اوشى او پرده به اوچته شى.

٨. كۀ نۀ وى نو صبر كوئ د هغے ورځے د وهلو دپاره په كومه ورځ چه الله تعالى عزت وركوى چا لره چه غواړى.

٩. او الله تعالى فرمائى ما يو بنده در اوليږو چه هغه رښتياوائى او د هغۀ په خبره كښں څۀ شك نشته دے

١٠. او الله تعالى فرمائيلى دى ما يو لښكر تيار كړے دے هغه د انصارو لښكر دے چه د هغوى لوبه د كافرانو سره مقابله كول دى.

١١. مونږ خو هره ورځ په يو نه يو تياري كښں يو كنځل وئيل دى د كافرانو سره يا جنګ دے يا هجوه ده د كافرانو.

١٢. څوك دے ستاسو نه چه هجوه كوى د الله د رسول الله او د هغوى تعريف كوى يا مدد كوى هغه ټول برابر دى.

١٣. او جبرائيل د الله رسول په مونږ كښں دے. او روح القدس چه د هغۀ څوك مثل نشته

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

باب : د ابوهريره رضى الله تعالى عنه فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنْتُ أَدْعُو أُمِّي إِلَى الْإِسْلَامِ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فَدَعَوْتُهَا يَوْمًا فَأَسْمَعَتْنِي فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَكْرَهُ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائى چه ما خپلے مور ته دعوت وركولو د اسلام په طرف هغه مشركه وه. هغے د رسول اللهﷺ حق كښں يوه خبره اوكړه چه هغه په ما ناخوښه اولګيده. زۀ د جناب رسول خداﷺ خواله په ژړا راغلم او عرض مے اوكړو چه

أَعْلَى الْعَمُودِ فَأَخَذْتُ بِالْعُرْوَةِ فَقِيلَ لِي اسْتَمْسِكْ فَلَقَدْ اسْتَيْقَظْتُ وَإِنَّهَا لَفِي يَدِي فَقَصَصْتُهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تِلْكَ الرَّوْضَةُ الْإِسْلَامُ وَذَلِكَ الْعَمُودُ عَمُودُ الْإِسْلَامِ وَتِلْكَ الْعُرْوَةُ عُرْوَةُ الْوُثْقَى وَأَنْتَ عَلَى الْإِسْلَامِ حَتَّى تَمُوتَ قَالَ وَالرَّجُلُ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ

چه دهغې ستنې سر ته اورسیدم اوهغه حلقه مې اونیوه ما ته اووئیلې شو دې لره اونیسه. بیا زه راویښ شوم او هغه حلقه د هغه وخته پورې خما په لاس کښې وه. دا خوب ما رسول الله ﷺ ته بیان کړو حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه باغ خو اسلام دې او دغه ستن د اسلام ستن ده. او هغه حلقه ددین مضبوطه حلقه ده او ته به د اخرې سلګئ پورې په اسلام باندې قائم پاتې شې. قیسؒ وائی هغه سړې عبد الله بن سلامؓ وو.

عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ كُنْتُ فِي حَلْقَةٍ فِيهَا سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ وَابْنُ عُمَرَ فَمَرَّ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ فَقَالُوا هَذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَقُمْتُ فَقُلْتُ لَهُ إِنَّهُمْ قَالُوا كَذَا وَكَذَا قَالَ سُبْحَانَ اللهِ مَا كَانَ يَنْبَغِي لَهُمْ أَنْ يَقُولُوا مَا لَيْسَ لَهُمْ بِهِ عِلْمٌ إِنَّمَا رَأَيْتُ كَأَنَّ عَمُودًا وُضِعَ فِي رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ فَنُصِبَ فِيهَا وَفِي رَأْسِهَا عُرْوَةٌ وَفِي أَسْفَلِهَا مِنْصَفٌ وَالْمِنْصَفُ الْوَصِيفُ فَقِيلَ لِي ارْقَهْ فَرَقِيتُ حَتَّى أَخَذْتُ بِالْعُرْوَةِ فَقَصَصْتُهَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمُوتُ عَبْدُ اللهِ وَهُوَ آخِذٌ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى

د قیس بن عباد نه روایت دې وائی چه زه په یو تولی کښې وم چه په کښې سعد بن مالکؓ او عبد الله بن عمرؓ هم وو. چه په دې کښې عبد الله بن سلام راووتو. خلقو اووې دا د جنتیانو نه دې. زه پاڅیدم او ما هغوی ته اووې ستاسو په باره کښې خلق داسې وائی. هغوی اووې سبحان الله! دوی له هغه خبره کول نه دی پکار چه په هغې نه پوهیږی ما په خوب کښې یوه ستن اولیده چه د یو شین باغ په مینځ کښې اودرولې شوې وه. د هغې په سر باندې یوه حلقه لګیدلې وه او د هغې لاندې یو خدمتګار ولاړ وو ما ته ئې اووې په دې باندې خیژه. زه اوختم تر دې پورې چه حلقه مې اونیوه. بیا ما دا خوب رسول الله ﷺ ته بیان کړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل عبد اللهؓ به ددغه مضبوطې حلقې د نیولو په حالت کښې وفات کیږی (یعنی په دین د اسلام باندې)

عَنْ خَرَشَةَ بْنِ الْحُرِّ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا فِي حَلْقَةٍ فِي مَسْجِدِ الْمَدِينَةِ قَالَ وَفِيهَا شَيْخٌ حَسَنُ الْهَيْئَةِ وَهُوَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ قَالَ فَجَعَلَ يُحَدِّثُهُمْ حَدِيثًا حَسَنًا قَالَ فَلَمَّا قَامَ

د خرشه بن حُر نه روایت دې وائی چه زه د مدینې په مسجد کښې په یوه حلقه کښې کیښناستم. هلته یو ښائسته بوډا وو. او هغه عبد الله بن سلامؓ وو هغه د خلقو سره ښې ښې خبرې کولې هر کله چه هغه پاڅیدو نو خلقو اووې چا ته چه د جنتی لیدل ښکاری هغه د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي كُنْتُ أَدْعُو أُمِّي إِلَى الْإِسْلَامِ فَتَأْبَى عَلَيَّ فَدَعَوْتُهَا الْيَوْمَ فَأَسْمَعَتْنِي فِيكَ مَا أَكْرَهُ فَادْعُ اللهَ أَنْ يَهْدِيَ أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اهْدِ أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَخَرَجْتُ مُسْتَبْشِرًا بِدَعْوَةِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا جِئْتُ فَصِرْتُ إِلَى الْبَابِ فَإِذَا هُوَ مُجَافٌ فَسَمِعَتْ أُمِّي خَشْفَ قَدَمَيَّ فَقَالَتْ مَكَانَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَسَمِعْتُ خَضْخَضَةَ الْمَاءِ قَالَ فَاغْتَسَلَتْ وَلَبِسَتْ دِرْعَهَا وَعَجِلَتْ عَنْ خِمَارِهَا فَفَتَحَتِ الْبَابَ ثُمَّ قَالَتْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ وَأَنَا أَبْكِي مِنَ الْفَرَحِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَبْشِرْ قَدِ اسْتَجَابَ اللهُ دَعْوَتَكَ وَهَدَى أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَقَالَ خَيْرًا قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يُحَبِّبَنِي أَنَا وَأُمِّي إِلَى عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِينَ وَيُحَبِّبَهُمْ إِلَيْنَا قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ حَبِّبْ عُبَيْدَكَ هَذَا يَعْنِي أَبَا هُرَيْرَةَ وَأُمَّهُ إِلَى عِبَادِكَ الْمُؤْمِنِينَ وَحَبِّبْ إِلَيْهِمُ الْمُؤْمِنِينَ فَمَا خُلِقَ مُؤْمِنٌ يَسْمَعُ بِي وَلَا

يا رسول اللهؐ ما خپلے مورته د اسلام دعوت ورکړو هغے نه منلو. نن هغے ستاسو په حق کښې هغه خبره اوکړه چه هغه خما خوښه نه ده. نو تاسو د ابوهريرهؓ مور ته د هدايت دپاره د اللهؐ نه دُعا اوغواړئ. رسول اللهﷺ اوفرمائيل يا اللهؐ د ابوهريره مور ته هدايت نصيب کړے. زهٔ د حضرتﷺ ددعا سره په خوشحالئ رااووتم هر کله چه د کور دروازے ته رااورسيدم نو دروازه بنده وه. او خما مور چه خما د خپو آواز واوريدهٔ نو اوئے وئيل لږ صبر اوکړه. او ما هم د اوبو غورځولو آواز واوريدهٔ. غرض دا چه خما مور غسل اوکړو او خپل قميص ئے واغوستهٔ او څادر ئے په جلتئ پسر کړو او دروازه ئے بيرته کړه او اوئے وئيل اے ابوهريره ! زهٔ گواهي ورکوم چه نشته دے معبود برحق سوا د الله نه. او گواهي ورکوم چه محمدﷺ د الله بنده او رسول دے . ابوهريرهؓ وائي زهٔ د رسول اللهﷺ خواله په ژړا راغلم د خوشحالئ نه. او عرض مے اوکړو چه يا رسول اللهؐ! زيرے درکوم الله تعالىٰ ستاسو دُعا قبوله کړه او د ابوهريره مور ته ئے هدايت اوکړو. حضرتﷺ د الله ثنا صفت اوکړو او غوره خبرےئے اوکړے. ما عرض اوکړو يا رسول اللهؐ د الله نه دُعا اوغواړئ چه خما او خما د مور محبت د مسلمانانو په زړونو کښې اوغورځوی او د هغوی محبت زمونږ په زړونو کښې اوغورځوی. يا الله د خپلو بنديگانو (يعنی د ابوهريره او د هغوی د مور محبت د مؤمنانو بنديگانو په زړونو کښې واچوئے او د مؤمنانو محبت ددوی په زړونو کښې واچوے. بيا هيڅ يو مؤمن داسےنهٔ دے پيدا شوے چه هغه ما لره اوريدلے ياليدلے

قَالَ الْقَوْمُ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ
أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا قَالَ فَقُلْتُ وَاللهِ
لَأَتْبَعَنَّهُ فَلَأَعْلَمَنَّ مَكَانَ بَيْتِهِ قَالَ فَتَبِعْتُهُ
فَانْطَلَقَ حَتّٰى كَادَ أَنْ يَخْرُجَ مِنَ الْمَدِينَةِ ثُمَّ
دَخَلَ مَنْزِلَهُ قَالَ فَاسْتَأْذَنْتُ عَلَيْهِ فَأَذِنَ لِي
فَقَالَ مَا حَاجَتُكَ يَا ابْنَ أَخِي قَالَ فَقُلْتُ لَهُ
سَمِعْتُ الْقَوْمَ يَقُولُونَ لَكَ لَمَّا قُمْتَ مَنْ
سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ
فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا فَأَعْجَبَنِي أَنْ أَكُونَ مَعَكَ قَالَ
اللهُ أَعْلَمُ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ وَسَأُحَدِّثُكَ مِمَّ قَالُوا
ذَاكَ إِنِّي بَيْنَمَا أَنَا نَائِمٌ إِذْ أَتَانِي رَجُلٌ فَقَالَ لِي
قُمْ فَأَخَذَ بِيَدِي فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ قَالَ فَإِذَا أَنَا
بِجَوَادَّ عَنْ شِمَالِي قَالَ فَأَخَذْتُ لِآخُذَ فِيهَا
فَقَالَ لِي لَا تَأْخُذْ فِيهَا فَإِنَّهَا طُرُقُ أَصْحَابِ
الشِّمَالِ قَالَ فَإِذَا جَوَادُّ مَنْهَجٌ عَلَى يَمِينِي
فَقَالَ لِي خُذْ هَاهُنَا فَأَتَى بِي جَبَلًا فَقَالَ لِي
اصْعَدْ قَالَ فَجَعَلْتُ إِذَا أَرَدْتُ أَنْ أَصْعَدَ
خَرَرْتُ عَلَى اسْتِي قَالَ حَتّٰى فَعَلْتُ ذٰلِكَ
مِرَارًا قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتّٰى أَتَى بِي عَمُودًا
رَأْسُهُ فِي السَّمَاءِ وَأَسْفَلُهُ فِي الْأَرْضِ فِي
أَعْلَاهُ حَلْقَةٌ فَقَالَ لِي اصْعَدْ فَوْقَ هٰذَا قَالَ
قُلْتُ كَيْفَ أَصْعَدُ هٰذَا وَرَأْسُهُ فِي السَّمَاءِ
قَالَ فَأَخَذَ بِيَدِي فَزَجَلَ بِي قَالَ فَإِذَا أَنَا

دۀ ته اوګوری ما (پخپل زړۀ کښې) اووے قسم په خدائے زۀ ددۀ سره خم او ددۀ کور وينمه بيا زۀ په هغۀ پسے شا ته روان وم او هغه روان وو ترد ے پورے چه د ښار نه بهر وتلو ته نژدے شو بيا هغه خپل کور ته لاړو. ما هم د دننه تلو اجازت اوغوښتو او هغوی اجازت راکړو. بيائے تپوس اوکړو اے خما ورارۀ! ستا څۀ کار دے. ما اووے ما د خلقو نه واوريدل څۀ وخت چه تاسو پاڅيدئ نو هغوی اووے چا ته چه ښۀ ښکاری د يو جنتی ليدل هغه د دۀ ته اوګوری. نو ما ته ښه معلوم شو ستاسو سره اوسيدل. هغوی اووے الله ته معلومه ده د جنتيانو. او زۀ تاته د خلقو ددے وينا وجه بيانوم. زۀ يو ځل اودۀ وم په خوب کښې يو سړے راغے. او هغۀ اوے پاڅه بيا هغه خما لاس اونيو. زۀ د هغۀ سره لاړم ما ته په ګس طرف څۀ لارے ميلاؤ شوے. ما په هغه لارو تلل غوښتل هغۀ اووے په دے مۀ ځه دا د ګس طرف د خاوندانو لارے دی (يعنی د کافرانو) بيا د ښئ طرف لارے ميلاؤ شوے. هغه سړی اووے په دے لارو ځه بيا يو غر ميلاؤ شو. هغه سړی اووے په دے باندے خيژه. ما چه د ختلو اراده اوکړه نو د کناتو په سر رااوغورځيدم څو ځله ما د ختلو اراده اوکړه.ليکن په هر ځل رااوغورځيدم. بيا زۀ هغه د ځان سره بوتلم ترد ے پورے چه يوه ستن مے اوليده چه د هغے سر په اسمان کښې وو او ويخ ئے په زمکه کښې. او د هغے دپاسه يوه حلقه لګيدلے وه. ما ته ئے اووے په دے ستنے باندے پورته خيژه. ما اووے په دے زۀ څنګه اوخيژم ددے سر خو په آسمان کښې دے آخر هغه سړی خما لاس اونيوۀ او اوئے خيژولم. زۀ څۀ ګورم چه هغه حلقه مے نيولے ده زوړند شوے يم. بيا هغه سړی هغه ستن اووهله هغه پريوته او زۀ د

يرانِي إِلاَّ أَحبَّنِي
وي مګر محبت ساتلے دے هغه خما سره

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ إِنَّكُمْ تَزْعُمُونَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ يُكْثِرُ الْحَدِيثَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللهُ الْمَوْعِدُ كُنْتُ رَجُلًا مِسْكِينًا أَخْدُمُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مِلْءِ بَطْنِي وَكَانَ الْمُهَاجِرُونَ يَشْغَلُهُمُ الصَّفْقُ بِالْأَسْوَاقِ وَكَانَتِ الْأَنْصَارُ يَشْغَلُهُمُ الْقِيَامُ عَلَى أَمْوَالِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَبْسُطْ ثَوْبَهُ فَلَنْ يَنْسَى شَيْئًا سَمِعَهُ مِنِّي فَبَسَطْتُ ثَوْبِي حَتَّى قَضَى حَدِيثَهُ ثُمَّ ضَمَمْتُهُ إِلَيَّ فَمَا نَسِيتُ شَيْئًا سَمِعْتُهُ مِنْهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائی چه تاسو ګمان کوئ چه ابوهريرهؓ د رسول اللهﷺ حديثونه ډير بيانوی. او الله حساب کولو والا (کچرے زهٔ دروغ وايم يا تاسو په ما باندے غلط ګمان کوئ) زهٔ يو مسکين سړے وم. د رسول اللهﷺ خدمت به مے د ګيډے په ډکولو سره کولو. او مهاجرو ته په بازارونو کښې معاملے کولو نه فرصت نهٔ وو او انصار به د خپلو مالونو په حفاظت او خدمت کښې مصروف وو. رسول اللهﷺ اوفرمائيل کوم سړی چه خپله کپړه اوغوړوله هغه چه خما نه څهٔ واوری نو هغه به ترے نهٔ هيريږی. ما خپله کپړه اوغوړوله تردے پورے چه حضرتﷺ حديث بيان کړو. بيا ما هغه کپړه د خپلے سينے سره اولګوله پس نهٔ هيريږی خما نه هيڅ خبره کومه چه مے د حضرتﷺ نه اوريدلی وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ غَيْرَ أَنَّ مَالِكًا انْتَهَى حَدِيثُهُ عِنْدَ انْقِضَاءِ قَوْلِ أَبِي هُرَيْرَةَ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِهِ الرِّوَايَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَبْسُطْ ثَوْبَهُ إِلَى آخِرِهِ

د ابوهريرهؓ نه هم دا حديث مروی دے مګر په دے روايت کښې مالك (راوی) د ابوهريرهؓ د خبرے پورے خپل حديث بيان کړے دے او په دے کښې د رسول اللهﷺ دا فرمان ذکر کړے شوے نهٔ دے چه څوك خپله کپړا اوغوړوی د آخره پورے.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ أَلَا يُعْجِبُكَ أَبُو هُرَيْرَةَ جَاءَ فَجَلَسَ إِلَى جَنْبِ حُجْرَتِي يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْمِعُنِي ذَلِكَ وَكُنْتُ أُسَبِّحُ فَقَامَ قَبْلَ أَنْ أَقْضِيَ سُبْحَتِي وَلَوْ أَدْرَكْتُهُ لَرَدَدْتُ عَلَيْهِ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ كَسَرْدِكُمْ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَقَالَ ابْنُ

د عروه بن زبيرؓ نه روايت دے چه حضرت عائشےؓ اووے. تاسو تعجب نهٔ کوئ ابوهريرهؓ راغے او خما د حجرے به يو طرف کښې کيښناستو او د رسول اللهﷺ حديث ئے بيانولو. ما اوريدل ليکن هغه وخت ما تسبيح لوستله. او خما د فارغ کيدو نه مخکښې هغه لاړو. کچرے ما هغه موندلے وے نو د هغهٔ رد به مے کړے وو. خکه چه رسول اللهﷺ په دے شان زرزر خبرے نهٔ کولے لکه څنګه چه تهٔ کوے. ابوهريرهؓ اووے خلق وائی چه ابوهريرهؓ ډير

مُتَعَلِّقٌ بِالْحَلْقَةِ قَالَ ثُمَّ ضَرَبَ الْعَمُودَ فَخَرَّ قَالَ وَبَقِيتُ مُتَعَلِّقًا بِالْحَلْقَةِ حَتَّى أَصْبَحْتُ قَالَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَصَصْتُهَا عَلَيْهِ فَقَالَ أَمَّا الطُّرُقُ الَّتِي رَأَيْتَ عَنْ يَسَارِكَ فَهِيَ طُرُقُ أَصْحَابِ الشِّمَالِ قَالَ وَأَمَّا الطُّرُقُ الَّتِي رَأَيْتَ عَنْ يَمِينِكَ فَهِيَ طُرُقُ أَصْحَابِ الْيَمِينِ وَأَمَّا الْجَبَلُ فَهُوَ مَنْزِلُ الشُّهَدَاءِ وَلَنْ تَنَالَهُ وَأَمَّا الْعَمُودُ فَهُوَ عَمُودُ الْإِسْلَامِ وَأَمَّا الْعُرْوَةُ فَهِيَ عُرْوَةُ الْإِسْلَامِ وَلَنْ تَزَالَ مُتَمَسِّكًا بِهَا حَتَّى تَمُوتَ

سحره پورې په هغه حلقه کښې زوړندوم (ددے وجې نه چه د راکوزیدو څۀ ذریعه پاتې نۀ شوه) هر کله چه زۀ راویخ شوم نو د جناب رسول الله ﷺ خواله راغلم او هغوی ته مے دا خوب بیان کړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل کومې لارے چه تا د خان نه گس طرفته اولیدلے هغه د گس طرف د خاوندانو لارے دی. او کومې چه د ښی طرفته اولیدے هغه د ښی طرف د خاوندانو لارے دی. او غر چه وو نو هغه د شهیدانو درجه ده. تۀ هغے ته نۀ شے رسیدے او ستن د اسلام ستن ده. او حلقه د اسلام حلقه ده. نو تۀ به په اسلام باندے قائم پاتې شے د مرګه پورے (او هر کله چه خاتمه په اسلام باندے وی نو د جنت یقین کیدے شی ددے وجې نه خلق ما ته جنتی وائی)

بَابُ فَضَائِلِ حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

باب : د حسان بن ثابت رضی الله تعالی عنه فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ عُمَرَ مَرَّ بِحَسَّانَ وَهُوَ يُنْشِدُ الشِّعْرَ فِي الْمَسْجِدِ فَلَحَظَ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ كُنْتُ أُنْشِدُ وَفِيهِ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَى أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ أَنْشُدُكَ اللَّهَ أَسَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَجِبْ عَنِّي اللَّهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ قَالَ اللَّهُمَّ نَعَمْ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه حضرت عمر رضی الله عنه په حسان بن ثابت رضی الله عنه باندے تیر شو. هغه په جماعت کښې اشعار لوستل (معلومه شوه چه ښکلی اشعار چه د اسلام د تعریف او د کافرانو د بدوالی یا د جهاد د ترغیب په جماعت کښې لوستل صحیح دی) حضرت عمر رضی الله عنه د هغوی په طرف اوکتل. حسان اووے. ما خو به په جماعت کښې اشعار لوستل کله چه په جماعت کښې ستا نه غوره بنده موجود وو. بیائے د ابوهریره رضی الله عنه په طرف اوکتل او اوئے وئیل زۀ تا ته په الله قسم درکوم تا د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیل به ئے خما د طرفه جواب ورکړه اے حسان! یا الله دده مدد اوکړه په روح القدس سره ابوهریره رضی الله عنه اووے ما اوریدلی دی.

عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ حَسَّانَ قَالَ فِي حَلْقَةٍ

د سعید بن المسیب نه روایت دے چه حسان بن ثابت رضی الله عنه په یو مجلس

الْمُسَيَّبِ إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ يَقُولُونَ إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَدْ أَكْثَرَ وَاللَّهُ الْمَوْعِدُ وَيَقُولُونَ مَا بَالُ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ لَا يَتَحَدَّثُونَ مِثْلَ أَحَادِيثِهِ وَسَأُخْبِرُكُمْ عَنْ ذٰلِكَ إِنَّ إِخْوَانِي مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ يَشْغَلُهُمْ عَمَلُ أَرَضِيهِمْ وَإِنَّ إِخْوَانِي مِنَ الْمُهَاجِرِينَ كَانَ يَشْغَلُهُمُ الصَّفْقُ بِالْأَسْوَاقِ وَكُنْتُ أَلْزَمُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مِلْءِ بَطْنِي فَأَشْهَدُ إِذَا غَابُوا وَأَحْفَظُ إِذَا نَسُوا وَلَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا أَيُّكُمْ يَبْسُطُ ثَوْبَهُ فَيَأْخُذُ مِنْ حَدِيثِي هٰذَا ثُمَّ يَجْمَعُهُ إِلَى صَدْرِهِ فَإِنَّهُ لَمْ يَنْسَ شَيْئًا سَمِعَهُ فَبَسَطْتُ بُرْدَةً عَلَيَّ حَتَّى فَرَغَ مِنْ حَدِيثِهِ ثُمَّ جَمَعْتُهَا إِلَى صَدْرِي فَمَا نَسِيتُ بَعْدَ ذٰلِكَ الْيَوْمِ شَيْئًا حَدَّثَنِي بِهِ وَلَوْلَا آيَتَانِ أَنْزَلَهُمَا اللهُ فِي كِتَابِهِ مَا حَدَّثْتُ شَيْئًا أَبَدًا إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَىٰ إِلَى آخِرِ الْآيَتَيْنِ.

حديثونه بيانوی. او الله تعالى چانړ کولو والادے او دا هم وائی چه مهاجرين او انصار د ابوهريره پشان حديثونه نه بيانوی او زهٔ تاسو ته د هغې سبب بيانوم. خما رونړه انصاری چه کوم وو هغه د خپلې زمکې په خدمت کښې مشغول وو. او کوم چه مهاجرين وو هغه د بازار په معاملو کښې مشغول وو. او ما به په ګيډه ډکولو د رسول الله ﷺ خدمت کولو. نو زهٔ به حاضر وم او هغه به غائب وو او ما به يادول او هغوی به هيرول او رسول الله ﷺ يوه ورځ اوفرمائيل څوك چه ستاسو نه خپله کپړه اوغوړوی او خما حديث واوری بيا هغه کپړه د خپلې سينې سره اولګوی نو کومه خبره چه واوری هغه به ترے نهٔ هيريږی. ما خپل څادر خور کړو ترد ے پورے چه حضرت ﷺ د حديثو نه فارغ شو. بيا ما هغه څادر د سينې سره اولګوو. د هغه ورځې نه خما نه د حضرت ﷺ يوه خبره چه هغوی فرمائيلی ده نهٔ ده هيره شوے. او کچرے دا دوه آيتونه نازل شوی په قرآن مجيد کښې نهٔ وے. نو ما به هيڅ يو کس ته يو حديث هم بيان کړے نهٔ وو. د هغې آيتونو ترجمه داده: کوم خلق چه پټوی هغه څهٔ چه نازل کړی دی مونږ د دلائلو ظاهرو او هدايت خبرے، په هغوی باندے لعنت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّكُمْ تَقُولُونَ إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ يُكْثِرُ الْحَدِيثَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے هغوی اووئيل . تاسو خلق وايئ چه ابوهريره د رسول الله ﷺ نه زيات احاديث روايت کوی د پورتنی پشان.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ وَأَهْلِ بَدْرٍ

باب : د حاطب بن ابی بلتعه او د بدر والاؤ رضی الله تعالى عنهم فضيلت

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ وَهُوَ كَاتِبُ عَلِيٍّ

د عبيد الله بن ابورافع ؓ نه روايت دے چه د حضرت علی ؓ منشی

فِيهِمْ أَبُو هُرَيْرَةَ أَنْشُدُكَ اللهَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَسَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ

کښې اووے چه په هغے کښې ابوهریره هم وو چه اے ابوهریره! زهٔ تاسو له د خدائے قسم درکوم تاسو اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه (مخکښې مضمون، د پورتنی حدیث پشان ئے بیان کړو.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ سَمِعَ حَسَّانَ بْنَ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيَّ يَسْتَشْهِدُ أَبَا هُرَيْرَةَ أَنْشُدُكَ اللهَ هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَا حَسَّانُ أَجِبْ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَعَمْ

د ابوسلمه بن عبد الرحمن نه روایت دے چه هغوی اوریدلی دی د حسان بن ثابت انصاری نه چه هغه ابوهریره له گواه کولو چه زهٔ تا ته په الله قسم درکوم تا د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه حضرت ﷺ به فرمائیل اے حسانه! د رسول الله ﷺ د طرفنه جواب ورکړه. یا الله مدد اوکړه د حسان په روح القدوس سره ابوهریره اووے آو ما اوریدلی دی.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ اهْجُهُمْ أَوْ هَاجِهِمْ وَجِبْرِيلُ مَعَكَ

د براء بن عازب نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه حسان بن ثابت ته ئے فرمائیل د کافرانو هجوه کوه او جبرائیل ستاسره دے.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د شعبه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ حَسَّانَ بْنَ ثَابِتٍ كَانَ مِمَّنْ كَثَّرَ عَلَى عَائِشَةَ فَسَبَبْتُهُ فَقَالَتْ يَا ابْنَ أُخْتِي دَعْهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عروه بن زبیر نه روایت دے چه حسان بن ثابت ډیرے خبرے اوکړے د حضرت عائشے سره ما هغے ته بد اووے. حضرت عائشے اووے پریږده اے خما ورارهٔ! ولے چه حسان به جواب ورکولو (کافرانو ته) د رسول الله ﷺ د طرفنه

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ وَعِنْدَهَا حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ يُنْشِدُهَا شِعْرًا يُشَبِّبُ بِأَبْيَاتٍ لَهُ فَقَالَ:

د هشام نه په دے اسناد سره هم داسے روایت دے د مسروق نه هغوی وائی چه زهٔ د مؤمنانو د مور حضرت عائشے خواله لاړم د هغوی په خواه کښې حسان بن ثابت ناست وو یو شعر ئے اورولو د خپلو ابیاتو نه هغه داد ے

حَصَانٌ رَزَانٌ مَا تُزَنُّ بِرِيبَةٍ
وَتُصْبِحُ غَرْثَى مِنْ لُحُومِ الْغَوَافِلِ

پاك دی او عقل والا په دوی څهٔ تهمت نشته
سحر پا خیری وږی د غافل غوښو خوړولو نه

قَالَ سَمِعْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ يَقُولُ بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ فَقَالَ ائْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوهُ مِنْهَا فَانْطَلَقْنَا تَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا فَإِذَا نَحْنُ بِالْمَرْأَةِ فَقُلْنَا أَخْرِجِي الْكِتَابَ فَقَالَتْ مَا مَعِي كِتَابٌ فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَتُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا فَأَتَيْنَا بِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا فِيهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى نَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا حَاطِبُ مَا هَذَا قَالَ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا فِي قُرَيْشٍ قَالَ سُفْيَانُ كَانَ حَلِيفًا لَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهَا أَكَانَ مِمَّنْ كَانَ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ لَهُمْ قَرَابَاتٌ يَحْمُونَ بِهَا أَهْلِيهِمْ فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي ذَلِكَ مِنَ النَّسَبِ فِيهِمْ أَنْ أَتَّخِذَ فِيهِمْ يَدًا يَحْمُونَ بِهَا قَرَابَتِي وَلَمْ أَفْعَلْهُ كُفْرًا وَلَا ارْتِدَادًا عَنْ دِينِي وَلَا رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ فَقَالَ

وو هغوی وائی ما اوریدلی دی د حضرت علیؓ نه هغوی وئیل چه رسول الله ﷺ ما لره او زبیر او مقداد لره اولیږل. او راته ئے اوفرمائیل د شفتالو باغ ته لاړ شئ هلته یوه ښخه په اوښ سوره ده د هغے سره یو خط دے هغه خط د هغے نه واخلئ راوړئ. مونږ په اسونو په منډه منډه لاړو ناڅاپه هغه ښخه مونږ ته میلاؤ شوه مونږ هغے ته اووے خط رااوباسه. هغے اووے څما سره خط نشته دے. مونږ اووے خط راکړه یا خپلے کپړے اوباسه. بیا ما هغه خط د هغے د کونسئ نه رااوویستهٔ او د رسول الله ﷺ خواله مے راوړو په هغے کښ لیکلی وو د حاطب بن بلتعه د طرفنه د مکے د مشرکانو په نوم د رسول الله ﷺ د ځنے خبرو ذکر وو (او په یو روایت کښ دی چه حاطب په دے کښ د رسول الله ﷺ تیاری او د فوج د رضامندی او د مکے د روانګئ نه کافرانو لره خبر کړل) حضرتؐ اوفرمائیل اے حاطبه! دا تا څهٔ اوکړل. هغهٔ اووے تاسو جلتی مهٔ کوئ یا رسول الله (یعنی فوراً ماله سزا مهٔ راکوئ څما حال واؤرئ) زهٔ د قریشو سره میلاؤ یو سړے وم یعنی د هغوی حلیف وم او د قریشو نه نهٔ وم. او ستاسو سره مهاجرین چه کوم دی د هغوی رشته دار په قریشو کښ ډیر دی چه د هغے په وجه د هغوی د کور کالهٔ بچ کیدل رابچ کیدل کیږی. نو ما دا غوښته چه څما خپلولی خو د قریشو نه نهٔ ده. چه زهٔ هم یو کار د هغوی داسے اوکړم چه په هغے سره څما د خپلوانو بچاؤ راشی او ما دا کار په دے وجه نهٔ دے کړے چه زهٔ کافر شوے یم یا مرتد شوے یم نهٔ زهٔ د مسلمانیدو نه پس په کفر باندے خوشحاله یم. رسول الله ﷺ

فَقَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ لٰكِنَّكَ لَسْتَ كَذٰلِكَ قَالَ مَسْرُوقٌ فَقُلْتُ لَهَا لِمَ تَأْذَنِيْنَ لَهُ يَدْخُلُ عَلَيْكِ وَقَدْ قَالَ اللّٰهُ وَالَّذِیْ تَوَلّٰی كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِیْمٌ فَقَالَتْ فَأَیُّ عَذَابٍ أَشَدُّ مِنَ الْعَمٰی إِنَّهُ كَانَ يُنَافِحُ أَوْ يُهَاجِي عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

(یعنی د چا غیبت نۀ کوی ولے چه غیبت کول د هغۀ غوښے خوړل دی)
نو حضرت عائشےؓ حسانؓ ته اووے لیکن تۀ داسے نۀ نے (یعنی تۀ د خلقو غیبت کوے) مسروق وائی ما حضرت عائشےؓ ته اووے. تاسو حسان خپلے خواته ولے پریږدئ حالانکه الله تعالی د هغۀ په شان کښې فرمائی: وَالَّذِیْ تَوَلّٰی كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِیْمٌ یعنی کوم سړی د هغوی نه چه بیړا اوچته کړه د لوئے خبرے (یعنی په حضرت عائشےؓ باندے د تهمت لګولو) د هغۀ دپاره لوئے عذاب دے (حسان بن ثابتؓ په هغه خلقو کښې شریك وو چا چه په حضرت عائشےؓ باندے تهمت لګولے وو. بیا حضرت ﷺ په هغوی باندے حد جاری کړو. حضرت عائشےؓ اووے دد ے نه زیات عذاب به څۀ وی چه هغه ړوند شو. او اوئے وئیل چه حسان به جواب ورکول یا به ئے د کافرانو هجوه کوله د رسول الله ﷺ د طرفه.

عَنْ شُعْبَةَ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ قَالَتْ كَانَ يَذُبُّ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَلَمْ يَذْكُرْ حَصَانٌ رَزَانٌ

د شعبه د په دے اسناد سره روایت دے چه حضرت عائشےؓ اوفرمائیل چه حسان به د رسول الله ﷺ دفاع کوله او په دے شعر کښې حسان رزان نشته

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ حَسَّانُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ائْذَنْ لِيْ فِيْ أَبِيْ سُفْيَانَ قَالَ كَيْفَ بِقَرَابَتِيْ مِنْهُ قَالَ وَالَّذِيْ أَكْرَمَكَ لَأَسُلَّنَّكَ مِنْهُمْ كَمَا تُسَلُّ الشَّعْرَةُ مِنَ الْخَمِيْرِ فَقَالَ حَسَّانُ: وَإِنَّ سَنَامَ الْمَجْدِ مِنْ اٰلِ هَاشِمٍ
بَنُوْ بِنْتِ مَخْزُوْمٍ وَوَالِدُكَ الْعَبْدُ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے وائی چه حسان اووے یا رسول الله! ما له د ابوسفیان د هجوے کولو اجازت راکړه (د ابوسفیان د حارث بن عبد المطلب ځوئ وو او د اسلام د راوړو نه مخکښې به ئے د حضرت ﷺ هجوه کوله دا د حضرت ﷺ د ترۀ ځوئ وو) حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه خو خما په خپلولئ کښې دے. حسان اووے قسم دے په هغه ذات چا چه تاله عزت درکړے دے زۀ به تاله د هغوی نه داسے اوباسم لکه ویښتۀ چه د وړو نه ویستلے شی. بیا حسان دا

عُمَرُ دَعْنِي يَا رَسُولَ اللهِ أَضْرِبْ عُنُقَ هٰذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ أَبِي بَكْرٍ وَزُهَيْرٍ ذِكْرُ الْآيَةِ وَجَعَلَهَا إِسْحٰقُ فِي رِوَايَتِهِ مِنْ تِلَاوَةِ سُفْيَانَ

اوفرمائیل چه حاطب رښتیا اووے. حضرت عمرؓ اووے تاسو ما پریږدئ یا رسول الله ﷺ چه زهٔ ددے منافق څټ اووهم حضرت ﷺ اوفرمائیل دےخو د بدر په جنګ کښې شریك وو او تاته معلومه نهٔ ده چه الله تعالی بدر والاؤ ته اطلاع ورکړه او ورته ئےاوفرمائیل. تاسو چه څهٔ اعمال غواړئ کوئ (په دے شرط چه کفر او نهٔ کړئ) ما تاسو ته بخښنه اوکړه. پس الله تعالی دا آیت نازل کړو " اے ایمان والاؤ! زما دشمن لره او خپل دشمن لره په دوستئ سره مهٔ نیسئ"[1].

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا مَرْثَدٍ الْغَنَوِيَّ وَالزُّبَيْرَ بْنَ الْعَوَّامِ وَكُلُّنَا فَارِسٌ فَقَالَ انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا امْرَأَةً مِنَ الْمُشْرِكِينَ مَعَهَا كِتَابٌ مِنْ حَاطِبٍ إِلَى الْمُشْرِكِينَ فَذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ عَنْ عَلِيٍّ

د حضرت علیؓ نه روایت دے چه اولیږلم زهٔ او ابومرثد غنوی او زبیر لره رسول الله ﷺ او مونږ ټول سوارهٔ وو. او اوئے فرمائیل چه څه او کله چه د شفتالو باغ ته اورسید ئے نو هلته به د مشرکینو یوه ښځه اوموموئ چه د هغې سره یو خط دے د مکے د مشرکینو په طرف د حاطب مخکښې حدیث هغسے دے څنګه چه عبید الله بن ابی رافع د علیؓ نه روایت کړے دے.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ عَبْدًا لِحَاطِبٍ جَاءَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْكُو حَاطِبًا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَيَدْخُلَنَّ حَاطِبٌ النَّارَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَبْتَ لَا يَدْخُلُهَا فَإِنَّهُ شَهِدَ بَدْرًا وَالْحُدَيْبِيَةَ

د جابرؓ نه روایت دے چه د حاطب یو غلام د حاطب نه په شکایت کولو د رسول الله ﷺ خواله راغے. او اوئے وئیل چه یا رسول الله! حاطب به ضرور دوزخ ته ځی. حضرت ﷺ اوفرمائیل ته دروغجن ئے حاطب به دوزخ ته نهٔ ځی. هغه په بدر او حدیبیه کښې شریك وو.

---

[1] نوویؒ وائی په دے حدیث کښې د حضرت ﷺ لویه معجزه ده. او دا معلومه شوه چه جاسوس نیول او د هغهٔ پرده ښکاره کول صحیح دی او جاسوس کافر نهٔ وی. مګر داسے جاسوسی چه دِ مسلمانانو په خلاف کښې وی سخت کبیره ګناه ده. او د ځنے مالیکیؤ په نزد د هغهٔ قتل هم جائز دے اګر که توبه اوباسی او د شافعیؒ په نزد به هغهٔ له سزا ورکوی او قتلوی به ئے نه او د بدر د شریکدونکو د معاف کیدو نه دا مطلب دے چه په آخرت کښې به پرے مواخذه نهٔ وی. مګر په دنیا کښې د هغوی مواخذه اوشوه او په مسطح باندے حد جاری شو هغه بدری نهٔ وو انتهی ملخصاً

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهٰذَا الإِسْنَادِ قَالَتْ اسْتَأْذَنَ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هِجَاءِ الْمُشْرِكِيْنَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَبَا سُفْيَانَ وَقَالَ بَدَلَ الْخَمِيْرِ الْعَجِيْنِ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اهْجُوا قُرَيْشًا فَإِنَّهُ أَشَدُّ عَلَيْهَا مِنْ رَشْقٍ بِالنَّبْلِ فَأَرْسَلَ إِلَى ابْنِ رَوَاحَةَ فَقَالَ اهْجُهُمْ فَهَجَاهُمْ فَلَمْ يُرْضِ فَأَرْسَلَ إِلَى كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ قَالَ حَسَّانُ قَدْ آنَ لَكُمْ أَنْ تُرْسِلُوْا إِلَى هٰذَا الأَسَدِ الضَّارِبِ بِذَنَبِهِ ثُمَّ أَدْلَعَ لِسَانَهُ فَجَعَلَ يُحَرِّكُهُ فَقَالَ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لأَفْرِيَنَّهُمْ بِلِسَانِي فَرْيَ الأَدِيْمِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا تَعْجَلْ فَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ أَعْلَمُ قُرَيْشٍ

شعر اووے : وَإِنَّ سَنَامَ الْمَجْدِ مِنَ آلِ هَاشِمٍ ٭ بَنُوْ بِنْتِ مَخْزُوْمٍ وَوَالِدُكَ الْعَبْدُ [1]

د هشام بن عروه په دے اسناد سره روايت دے چه حضرت عائشےؓ اووے چه حسان د نبی کریم ﷺ نه د مشرکينو د هجوے کولو اجازت اوغوختۀ. په دےکښې د ابوسفيان ذکر نشته. او د خمير په ځائے د عجين لفظ دے.

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل هجوه کوئ د قريشو ولے چه هجوه په هغوی ډيره بده لګی د غشو د باران نه بيا حضرت يو سړے په ابن رواحه پسے اوليږو او ورته ئے اوفرمائيل چه هجوه کوه د قريشو هغه هجوه اوکړه. ليکن حضرتﷺ غوره نۀ کړه. بيائے کعب بن مالكؓ ته اوليږو او بيائے په حسان بن ثابت پسے اوليږو. هر کله چه حسان د حضرتﷺ خواله راغے. نو هغوی اووے. تا لره راغے هغه وخت چه تا قاصد اوليږو په هغه منزری پسے چه هغه په خپله لکئ وهل کوی (يعنی په ژبه سره خلق قتلوی لکه په ميدان د فصاحت او شعرونيلو کښې منزرے دے) بيائے خپله ژبه بهر ته رااووسته او هغه ئے خوزوله او عرض ئے اوکړو قسم دے په هغه ذات چا چه تۀ په رښتونے پيغمبر راليږلے ئے چه زۀ به کافرانو لره په خپله ژبه داسے اوشلوم لکه څنګه

[1] د حضرت مطلب دا وو چه ابوسفيان خما د تره خوئ دے او تۀ د هغه هجوه کوے نو دا خو خما هم جهوه کيدے شی خکه چه خما او د هغه نيکه يو دے حسان اووے زۀ به تاسو بچ کړم او د هغه هجوه به اوکړم دا پوره شعر د حسان د يوے قصيدے دے چه د ابوسفيان په هجوه کښې ئے ونيلے وو چه ترجمه ئے داده يعنی بزرګی او شرافت د هاشم په اولاد کښې د مخزوم د خامنو دے ، او فاطمه بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم وه چه مور وه د عبد الله ، او زبير او ابوطالب او ستا پلار خو غلام وو ولے چه د حارث مور سميه لور د موهب وه او موهب د عبد مناف غلام وو او د ابوسفيان مور هم وينځه وه او دغه شعر نه روستو دا شعر دے

مَنْ وَلَدَتْ أَبْنَاءُ زُهْرَةَ مِنْهُمْ ... كِرَامٌ وَلَمْ يَقْرَبْ عَجَائِزَكَ الْمَجْدُ

يعنی شريفے هغه دی کومے چه د زهره لونړه دی د بنی هاشم نه او د زهره نه مراد هاله لور د وهب بن عبد مناف ده او د حمزه او صفيے مور او ستاسو د بوډئ ګانو سره شرافت نه نږدے شوی هم نۀ دی

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ أَهْلِ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ

عَنْ أُمِّ مُبَشِّرٍ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عِنْدَ حَفْصَةَ لَا يَدْخُلُ النَّارَ إِنْ شَاءَ اللهُ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ أَحَدٌ الَّذِينَ بَايَعُوا تَحْتَهَا قَالَتْ بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ فَانْتَهَرَهَا فَقَالَتْ حَفْصَةُ وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا

باب د اونې لاندې د رسول الله ﷺ نه د بیعت رضوان کولو والاؤ فضیلت

د اُم مبشر نه روایت دے چه هغه اوریدلی دی رسول الله ﷺ نه چه د مؤمنانو د مور حضرت حفصے رضی الله عنها په خوا کښې نې فرمائیل کچرے الله غواړی نو د اصحابو شجره نه به یو هم دوزخ ته لاړ نه شی. یعنی کومو خلقو چه بیعت کړے دے د هغه اونې د لاندے. هغوی اووے عجیبه ده یا رسول الله ﷺ ولے به نهٔ ځی. حضرت ﷺ هغه اورټله هغوی اووے الله تعالی فرمائیل دی وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا یعنی څوك ستاسو نه داسے نشته دے چه هغه به جهنم ته نهٔ ځی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل دد ےایت نه پس داسے دی ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا. یعنی بیا به مونږ خلاصے ورکړو پرهیزګارانو لره. او پریږدو به ظالمانو لره د زنګونانو په سرونو په هغے (یعنی جهنم) کښې[1]

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي مُوسَى وَأَبِي عَامِرٍ الْأَشْعَرِيَّيْنِ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَازِلٌ بِالْجِعْرَانَةِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ وَمَعَهُ بِلَالٌ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ أَلَا تُنْجِزُ لِي يَا مُحَمَّدُ مَا وَعَدْتَنِي فَقَالَ لَهُ

باب . د ابوموسیٰ او د ابوعامر اشعری رضی الله تعالی عنهما فضیلت

د ابو موسیٰ رضی الله عنه نه روایت دے چه زهٔ د رسول الله ﷺ سره وم. هغوی په جعرانه د مکے او مدینے په مینځ کښې وو او د حضرت ﷺ سره بلال رضی الله عنه هم وو چه په دے کښې یو بانډه چی د حضرت ﷺ خواله راغے. او اوئے وئیل یا رسول الله ﷺ خپله وعده نهٔ پوره کوے. حضرت ﷺ اوفرمائیل خوشحاله شه. هغهٔ

[1] مطلب دا دے چه ښه او بد به ټول په پُل صراط باندے تیریږی او هغه پُل په جهنم باندے دے. پس ښه یعنی نیک خلق به پرے لکه د برق پشان تیریږی. او بد کرداره خلق به ورته د زنګونانو په سرور غور خیږی دوزخ ته.

بِأَنْسَابِهَا وَإِنَّ لِيَ فِيهِمْ نَسَبًا حَتَّى يُلَخِّصَ لَكَ نَسَبِي فَأَتَاهُ حَسَّانُ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ لَخَّصَ لِي نَسَبَكَ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَأَسُلَّنَّكَ مِنْهُمْ كَمَا تُسَلُّ الشَّعْرَةُ مِنَ الْعَجِينِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ إِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ لَا يَزَالُ يُؤَيِّدُكَ مَا نَافَحْتَ عَنِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَقَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هَجَاهُمْ حَسَّانُ فَشَفَى وَاشْتَفَى قَالَ حَسَّانُ :

هَجَوْتَ مُحَمَّدًا فَأَجَبْتُ عَنْهُ
وَعِنْدَ اللَّهِ فِي ذَاكَ الْجَزَاءُ
هَجَوْتَ مُحَمَّدًا بَرًّا تَقِيًّا
رَسُولَ اللَّهِ شِيمَتُهُ الْوَفَاءُ
فَإِنَّ أَبِي وَوَالِدَهُ وَعِرْضِي
لِعِرْضِ مُحَمَّدٍ مِنْكُمْ وِقَاءُ
ثَكِلْتُ بُنَيَّتِي إِنْ لَمْ تَرَوْهَا
تُثِيرُ النَّقْعَ مِنْ كَنَفَيْ كَدَاءِ
يُبَارِينَ الْأَعِنَّةَ مُصْعِدَاتٍ
عَلَى أَكْتَافِهَا الْأَسَلُ الظِّمَاءُ
تَظَلُّ جِيَادُنَا مُتَمَطِّرَاتٍ
تُلَطِّمُهُنَّ بِالْخُمُرِ النِّسَاءُ

چه خرمن ځلولے شي. رسول الله ﷺ اوفرمائيل اے حسانه تادی مکوه ولے چه ابوبکر ته د قريشو نسب معلوم دے. او ځما هم نسب د قريشو نه دے. نو هغوی به ځما نسب تاته جدا کړی بيا حسان د ابوبکر خواله راغے. د هغۀ نه چه واپس شو نو عرض ئے اوکړو يا رسول الله ابوبکر ستاسو نسب ماته بيان کړو. قسم دے په هغه رب چه تۀ ئے په رښتونے پيغمبر راليږلے ئے چه به تاسو د قريشو نه داسے اوباسم لکه ويښتۀ چه د اوړو نه لرے کولے شي. حضرت عائشه وائي ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو. حسانه ستاسره به جبرائيل امين همیشه مدد کوی د کومے پورے چه تۀ د الله او د هغۀ د رسول د طرفنه جواب ورکوے. او حضرت عائشے وئيلی دی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو. حسان د قريشو هجوه اوکړه نو تسکين راغے د مؤمنانو زړونو ته او د کافرانو عزتونه ئے تباه کړل حسان وائي (هغه شعرونو لره د هغے ترجمه داده)

۱. تا د محمد بد اووے. ما د هغے جواب ورکړو. او الله تعالی به ئے بدله راکوی

۲. تا د محمد بد اووے چه نيك او پرهيزګاره دے د الله تعالی رسول دے. وفا داری د هغوی خصلت دے.

۳. ځما مور او پلار او ځما عزت د محمد د عزت بچ کولو دپاره صدقه دی.

۴. ځما لونړه د يتيمانے شي کچرے تۀ ئۀ ګورے دے ته چه الوزوی دوړه د کداء د دواړي طرفونو نه (کداء يو کنډو دے د مکے په دروازه باندے)

۵. داسے اوښانے چه هغه په تيښته کښې زور کوی په خپل قوت او

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْشِرْ فَقَالَ لَهُ الأَعْرَابِيُّ أَكْثَرْتَ عَلَيَّ مِنْ أَبْشِرْ فَأَقْبَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلَى أَبِي مُوسَى وَبِلَالٍ كَهَيْئَةِ الْغَضْبَانِ فَقَالَ إِنَّ هٰذَا قَدْ رَدَّ الْبُشْرَى فَاقْبَلَا أَنْتُمَا فَقَالَا قَبِلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ ثُمَّ دَعَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِقَدَحٍ فِيهِ مَاءٌ فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ فِيهِ وَمَجَّ فِيهِ ثُمَّ قَالَ اشْرَبَا مِنْهُ وَأَفْرِغَا عَلَى وُجُوهِكُمَا وَنُحُورِكُمَا وَأَبْشِرَا فَأَخَذَا الْقَدَحَ فَفَعَلَا مَا أَمَرَهُمَا بِهِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَنَادَتْهُمَا أُمُّ سَلَمَةَ مِنْ وَرَاءِ السِّتْرِ أَفْضِلَا لِأُمِّكُمَا مِمَّا فِي إِنَائِكُمَا فَأَفْضَلَا لَهَا مِنْهُ طَائِفَةً

عَنْ أَبِي عَامِرٍ قَالَ لَمَّا فَرَغَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حُنَيْنٍ بَعَثَ أَبَا عَامِرٍ عَلَى جَيْشٍ إِلَى أَوْطَاسٍ فَلَقِيَ دُرَيْدَ بْنَ الصِّمَّةِ فَقُتِلَ دُرَيْدٌ وَهَزَمَ اللهُ أَصْحَابَهُ فَقَالَ أَبُو مُوسَى وَبَعَثَنِي مَعَ أَبِي عَامِرٍ قَالَ فَرُمِيَ أَبُو عَامِرٍ فِي رُكْبَتِهِ رَمَاهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي جُشَمٍ بِسَهْمٍ فَأَثْبَتَهُ فِي رُكْبَتِهِ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ يَا عَمِّ مَنْ رَمَاكَ فَأَشَارَ أَبُو عَامِرٍ إِلَى أَبِي مُوسَى فَقَالَ إِنَّ ذَاكَ قَاتِلِي تَرَاهُ ذٰلِكَ الَّذِي رَمَانِي قَالَ أَبُو مُوسَى فَقَصَدْتُ لَهُ فَاعْتَمَدْتُهُ فَلَحِقْتُهُ فَلَمَّا رَآنِي وَلَّى عَنِّي

اووے تاسو ډیر فرمایئ خوشحاله شه. بیا حضرت ﷺ د غصے په شکل د بلال او ابوموسیٰ په طرف متوجه شو او اونے فرمائیل دۀ خو رد کړلو زیری لره تاسو ئے قبول کړئ. مونږ دواړو اووے مونږ قبول کړے دے. بیا حضرت ﷺ یو لوښے د اوبو اوغوښتو او دواړه لاسونه او مخ مبارک ئے وینځلو او په هغے کښې ئے لاړے مبارکے هم اوتوکلے بیانے اوفرمائیل تاسو دواړه دا اوبۀ اوڅښئ او په خپل مخ او سینه باندے ئے واچوئ او خوشحاله شئ. پس هغوی دواړو هغه لوښے راواخستو او هم هغه شان ئے اوکړو څۀ چه حضرت ﷺ حکم کړے وو. پس د مؤمنانو مور أم سلمهؓ د پردے نه روستو آواز اوکړو چه د خپلے مور دپاره هم څۀ پاتے شوے اوبۀ راوړئ او هغه هغے لره هم باقی پاتے اوبۀ ورکړے.

د ابوعامرؓ نه روایت دے وائی چه هر کله رسول الله ﷺ د حنین د جنګ نه فارغ شو نو ابوعامر ته ئے لښکر ورکړو او په اوطاس باندے اولیږو او درید بن الصمه د هغوی مقابله اوکړه لیکن الله تعالی درید بن الصمه قتل کړو او د هغۀ لښکر له ئے شکست ورکړو. ابوموسیٰؓ وائی چه زۀ هم رسول الله ﷺ د ابوعامر سره لیږلے وم. بیا د ابوعامر په زنګون کښې یو غشے اولګیدو. هغه غشے د بنی جشم یو سړی راوویشتو او د هغۀ په زنګون کښې اونختو. زۀ د هغوی خواله لاړم او تپوس مے ترے اوکړو چه اے کاکاجی په دے غشے تۀ چا اوویشتے. ابوعامر ما ته اوښوده چه دغه سړی زۀ قتل کړے او دغه سړی زۀ په غشی ویشتلے یم ابو موسیٰؓ وائی زۀ په هغه سړی پسے لاړم ترد ے پورے چه د هغۀ سره میلاؤ شوم. هغه چه

فَإِنْ أَعْرَضْتُمُو عَنَّا اعْتَمَرْنَا
وَكَانَ الْفَتْحُ وَانْكَشَفَ الْغِطَاءُ
وَإِلَّا فَاصْبِرُوا لِضِرَابِ يَوْمٍ
يُعِزُّ اللهُ فِيهِ مَنْ يَشَاءُ
وَقَالَ اللهُ قَدْ أَرْسَلْتُ عَبْدًا
يَقُولُ الْحَقَّ لَيْسَ بِهِ خَفَاءُ
وَقَالَ اللهُ قَدْ يَسَّرْتُ جُنْدًا
هُمُ الْأَنْصَارُ عُرْضَتُهَا اللِّقَاءُ
لَنَا فِي كُلِّ يَوْمٍ مِنْ مَعَدٍّ
سِبَابٌ أَوْ قِتَالٌ أَوْ هِجَاءُ
فَمَنْ يَهْجُو رَسُولَ اللهِ مِنْكُمْ
وَيَمْدَحُهُ وَيَنْصُرُهُ سَوَاءُ
وَجِبْرِيلٌ رَسُولُ اللهِ فِينَا
وَرُوحُ الْقُدُسِ لَيْسَ لَهُ كِفَاءُ

طاقت سره په پورته خیژی. د هغوی په متو باندے هغه غشی دی چه هغه نرۍ دی یا د وینے تږی دی.
٦. او زمونږ اسونه په منډو منډو راځی او د هغوی مخونه زنانه پاکوی په خپلو لوپټو سره.
٧. کچرے تاسو مونږ ته څه نه وایئ نو مونږه به عمره اوکړو او فتح به اوشی او پرده به اوچته شی.
٨. کۀ نۀ وی نو صبر کوئ د هغے ورځے د وهلو د پاره په کومه ورځ چه الله تعالی عزت ورکوی چا له ره چه غواړی.
٩. او الله تعالی فرمائی ما یو بنده در اولیږلو چه هغه رښتیا وائی او د هغۀ په خبره کښې څۀ شك نشته دے
١٠. او الله تعالی فرمائیلی دی ما یو لښکر تیار کړے دے هغه د انصارو لښکر دے چه د هغوی لوبه د کافرانو سره مقابله کول دی.
١١. مونږ خو هره ورځ په یو نه یو تیاری کښې یو کنځل وئیل دی د کافرانو سره یا جنګ دے یا هجوه ده د کافرانو.
١٢. څوك دے ستاسو نه چه هجوه کوی د الله د رسول الله او د هغوی تعریف کوی یا مدد کوی هغه ټول برابر دی.
١٣. او جبرائیل د الله رسول په مونږ کښې دے. او روح القدس چه د هغۀ څوك مثل نشته

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

باب : د ابوهریره رضی الله تعالی عنه فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنْتُ أَدْعُو أُمِّي إِلَى الْإِسْلَامِ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فَدَعَوْتُهَا يَوْمًا فَأَسْمَعَتْنِي فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَكْرَهُ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه ما خپلے مور ته دعوت ورکولو د اسلام په طرف هغه مشرکه وه. هغے د رسول الله ﷺ حق کښې یوه خبره اوکړه چه هغه په ما ناخوښه اولګیده. زۀ د جناب رسول خدا ﷺ خواله په ژړا راغلم او عرض مے اوکړو چه

ذَاهِبًا فَاتَّبَعْتُهُ وَجَعَلْتُ أَقُولُ لَهُ أَلَا تَسْتَحْيِي أَلَسْتَ عَرَبِيًّا أَلَا تَثْبُتُ فَكَفَّ فَالْتَقَيْتُ أَنَا وَهُوَ فَاخْتَلَفْنَا أَنَا وَهُوَ ضَرْبَتَيْنِ فَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ فَقَتَلْتُهُ ثُمَّ رَجَعْتُ إِلَى أَبِي عَامِرٍ فَقُلْتُ إِنَّ اللَّهَ قَدْ قَتَلَ صَاحِبَكَ قَالَ فَانْزِعْ هَذَا السَّهْمَ فَنَزَعْتُهُ فَنَزَا مِنْهُ الْمَاءُ فَقَالَ يَا ابْنَ أَخِي انْطَلِقْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْرِئْهُ مِنِّي السَّلَامَ وَقُلْ لَهُ يَقُولُ لَكَ أَبُو عَامِرٍ اسْتَغْفِرْ لِي قَالَ وَاسْتَعْمَلَنِي أَبُو عَامِرٍ عَلَى النَّاسِ وَمَكَثَ يَسِيرًا ثُمَّ إِنَّهُ مَاتَ فَلَمَّا رَجَعْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلْتُ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي بَيْتٍ عَلَى سَرِيرٍ مُرْمَلٍ وَعَلَيْهِ فِرَاشٌ وَقَدْ أَثَّرَ رِمَالُ السَّرِيرِ بِظَهْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَنْبَيْهِ فَأَخْبَرْتُهُ بِخَبَرِنَا وَخَبَرِ أَبِي عَامِرٍ وَقُلْتُ لَهُ قَالَ قُلْ لَهُ يَسْتَغْفِرْ لِي فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهُ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ أَبِي عَامِرٍ حَتَّى رَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَوْقَ كَثِيرٍ مِنْ خَلْقِكَ أَوْ مِنَ النَّاسِ فَقُلْتُ وَلِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَاسْتَغْفِرْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَيْسٍ ذَنْبَهُ

هر كله زهٔ اوليدم نو په شا اوتښتيدهٔ او زهٔ پسې شاته سم روان وم. او ما ورته دا وئيل شروع كړل اے بے حيا ولې تهٔ عرب نهٔ يے تهٔ اودريږې نه ددے په اوريدو هغه اودريدو. بيا خما او دهغهٔ مقابله شوه. هغه هم گذار اوكړو او ما هم گذار اوكړو. آخر ما هغه په توره سره اووژو. او بيا واپس د ابوعامرؓ خواله راغلم ما اووے الله ستا قاتل اووژو. ابوعامر اووے اوس دا غشے راوباسه ما چه غشے رااوويستو نو د غشي د ځائے نه اوبهٔ رااووتے (ينه رااونهٔ وتله كيدے شي هغه غشے په زهرو ككړ وو) اوبوعامرؓ اووے اے خما ورارهٔ! تهٔ د رسول الله ﷺ خواله لاړ شه او خماد طرفنه ورته سلام اووايه او دا ورته اووايه چه د ابوعامر دپاره د بخشش دُعا اوغواړه ابوموسیٰؓ وائي. ابوعامرؓ زهٔ د خلقو سردار كړم او لږ ساعت هغه ژوندے وو بيا وفات شو. بيا زهٔ واپس د رسول الله ﷺ په طرف راغلم نو د هغوي خواله لاړم. حضرتؐ په يوه كوټه كښې كښې وو د پړو په يو كټ باندے چه په هغے باندے جوړ وو او د بونړ نخښه د حضرت ﷺ په شا مباركه او پختو باندے جوړ شوے وو. ما دا خبر بيان كړو او د ابوعامر حال مے هم بيان كړو او ما اووے ابوعامر تاسو ته دا درخواست كړے وو چه خما دپاره دُعا اوغواړئ بيا رسول الله ﷺ اوبهٔ اوغوښتے او اودس ئے اوكړو. بيائے دواړه لاسونه مبارك اوچت كړل او اوئے فرمائيل يا الله أوبخښې عُبيد ابوعامر لره (عبيد بن سليم د هغوي نوم وو) تردے پورے چه ما د حضرت ﷺ د دواړو ترخونو سپين والے اوليدو. بيائے اوفرمائيل يا الله ابوعامر د قيامت په ورځ د ډيرو خلقو سردار كړے. ما عرض اوكړو يا رسول اللهؐ! او خما دپاره د بخشش دُعا اوفرمايئ حضرت ﷺ اوفرمائيل

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي كُنْتُ أَدْعُو أُمِّي إِلَى الْإِسْلَامِ فَتَأْبَى عَلَيَّ فَدَعَوْتُهَا الْيَوْمَ فَأَسْمَعَتْنِي فِيكَ مَا أَكْرَهُ فَادْعُ اللهَ أَنْ يَهْدِيَ أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اهْدِ أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَخَرَجْتُ مُسْتَبْشِرًا بِدَعْوَةِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا جِئْتُ فَصِرْتُ إِلَى الْبَابِ فَإِذَا هُوَ مُجَافٌ فَسَمِعَتْ أُمِّي خَشْفَ قَدَمَيَّ فَقَالَتْ مَكَانَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَسَمِعْتُ خَضْخَضَةَ الْمَاءِ قَالَ فَاغْتَسَلَتْ وَلَبِسَتْ دِرْعَهَا وَعَجِلَتْ عَنْ خِمَارِهَا فَفَتَحَتِ الْبَابَ ثُمَّ قَالَتْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ وَأَنَا أَبْكِي مِنَ الْفَرَحِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَبْشِرْ قَدِ اسْتَجَابَ اللهُ دَعْوَتَكَ وَهَدَى أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَقَالَ خَيْرًا قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يُحَبِّبَنِي أَنَا وَأُمِّي إِلَى عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِينَ وَيُحَبِّبَهُمْ إِلَيْنَا قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ حَبِّبْ عُبَيْدَكَ هٰذَا يَعْنِي أَبَا هُرَيْرَةَ وَأُمَّهُ إِلَى عِبَادِكَ الْمُؤْمِنِينَ وَحَبِّبْ إِلَيْهِمُ الْمُؤْمِنِينَ فَمَا خُلِقَ مُؤْمِنٌ يَسْمَعُ بِي وَلَا

يا رسول اللهؐ! ما خپلے مورته د اسلام دعوت ورکړو هغے نه منلو. نن هغے ستاسو په حق کښې هغه خبره اوکړه چه هغه خما خوښه نه ده. نو تاسو د ابوهريرهؓ مور ته د هدايت دپاره د اللهؐ نه دُعا اوغواړئ. رسول اللهﷺ اوفرمائيل يا اللهؐ د ابوهريره مور ته هدايت نصيب کړے. زهٔ د حضرتﷺ د دعا سره په خوشحالئ رااووتم هر کله چه د کور دروازے ته رااورسيدم نو دروازه بنده وه. او خما مور چه خما د خپو آواز واوريدهٔ نو اوئے وئيل لږ صبر اوکړه. او ما هم د اوبو غورځولو آواز واوريدهٔ. غرض دا چه خما مور غسل اوکړو او خپل قميص ئے واغوستهٔ او څادر ئے په جلتئ پسر کړو او دروازه ئے بيرته کړه او اوئے وئيل اے ابوهريره! زهٔ گواهي ورکوم چه نشته دے معبود برحق سوا د الله نه. او گواهي ورکوم چه محمدﷺ د الله بنده او رسول دے. ابوهريرهؓ وائي زهٔ د رسول اللهﷺ خواله په ژړا راغلم د خوشحالئ نه. او عرض مے اوکړو چه يا رسول اللهؐ! زيرے درکوم الله تعالیٰ ستاسو دُعا قبوله کړه او د ابوهريره مور ته ئے هدايت اوکړو. حضرتﷺ د الله ثنا صفت اوکړو او غوره خبرے ئے اوکړے. ما عرض اوکړو يا رسول اللهؐ! د الله نه دُعا اوغواړئ چه خما او خما د مور محبت د مسلمانانو په زړونو کښې اوغورځوی او د هغوی محبت زمونږ په زړونو کښې اوغورځوی. يا الله د خپلو بنديگانو (يعني د ابوهريره او د هغوی د مور محبت د مؤمنانو بنديگانو په زړونو کښې واچوئے او د مؤمنانو محبت ددوی په زړونو کښې واچوے. بيا هيڅ يو مؤمن داسے نه دے پيدا شوے چه هغه مالره اوريدلے ياليدلے

وَأَدْخِلْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُدْخَلًا كَرِيمًا قَالَ أَبُو بُرْدَةَ إِحْدَاهُمَا لِأَبِي عَامِرٍ وَالْأُخْرَى لِأَبِي مُوسَى

اوبخښې یا الله د عبد الله بن قیس ګناه لره (دا نوم دے د ابوموسیٰ) او د قیامت په ورځ دۀ لره د عزت کورته بوځه ابوبردهؓ وائی یوه دعائے د ابوعامر دپاره اوکړه او یوه ئے د ابوموسیٰؓ دپاره

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ الْأَشْعَرِيِّينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

باب : د اشعری خلقو فضیلت

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ أَصْوَاتَ رُفْقَةِ الْأَشْعَرِيِّينَ بِالْقُرْآنِ حِينَ يَدْخُلُونَ بِاللَّيْلِ وَأَعْرِفُ مَنَازِلَهُمْ مِنْ أَصْوَاتِهِمْ بِالْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ وَإِنْ كُنْتُ لَمْ أَرَ مَنَازِلَهُمْ حِينَ نَزَلُوا بِالنَّهَارِ وَمِنْهُمْ حَكِيمٌ إِذَا لَقِيَ الْخَيْلَ أَوْ قَالَ الْعَدُوَّ قَالَ لَهُمْ إِنَّ أَصْحَابِي يَأْمُرُونَكُمْ أَنْ تَنْظُرُوهُمْ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه زۀ د شعریانو آواز د قرآن پاک په تلاوت کښې پیژنم هر کله چه هغه د شپې راځی او د شپې د هغوی په آواز سره د هغوی د اوسیدو ځائے هم پیژنم اګر که د ورځې مې د هغوی د اوسیدو ځائے لیدلے نۀ وی. هر کله چه هغه د ورځې راکوز شوے وی. او د هغه خلقو نه یو سړے حکیم دے چه هر کله د کافرانو د سورو یا دشمنانو سره میلاویږی نو هغوی ته وائی چه زمونږ خلق تاسو ته وائی لږ شان مونږ ته فرصت راکړئ یا لږ شان انتظار اوکړئ (یعنی مونږ هم تیاریږو جنګ له راځو (نو خپل ځان په دا نایئ او حکمت سره بچ کولے شے ولے دشمن دا اوګنړی چه دے یواځې نه دے بلکه نور خلق ورسره هم دی)

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْأَشْعَرِيِّينَ إِذَا أَرْمَلُوا فِي الْغَزْوِ أَوْ قَلَّ طَعَامُ عِيَالِهِمْ بِالْمَدِينَةِ جَمَعُوا مَا كَانَ عِنْدَهُمْ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ اقْتَسَمُوهُ بَيْنَهُمْ فِي إِنَاءٍ وَاحِدٍ بِالسَّوِيَّةِ فَهُمْ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی دشعری خلق هر کله چه په جنګ کښې محتاج شی یا په مدینه کښې د هغوی د بال بچ غله کمه شی نو څۀ چه د هغوی سره وی هغې لره په یوه کپړه کښې راجمع کړی. بیائے په خپلو کښې برابر اوویشی. دا خلق څما دی او زۀ د هغوی یم (یعنی زۀ د هغوی نه راضی یم او داسې اتفاق لره غوره کوم)

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي سُفْيَانَ صَخْرِ

باب : د ابوسفیان رضی الله تعالی عنه

يرانِي إلاّ أحبنِي

وي مګر محبت ساتلے د ے هغه خما سره

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ إِنَّكُمْ تَزْعُمُونَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ يُكْثِرُ الْحَدِيثَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللهُ الْمَوْعِدُ كُنْتُ رَجُلًا مِسْكِينًا أَخْدُمُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مِلْءِ بَطْنِي وَكَانَ الْمُهَاجِرُونَ يَشْغَلُهُمُ الصَّفْقُ بِالْأَسْوَاقِ وَكَانَتِ الْأَنْصَارُ يَشْغَلُهُمُ الْقِيَامُ عَلَى أَمْوَالِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَبْسُطْ ثَوْبَهُ فَلَنْ يَنْسَى شَيْئًا سَمِعَهُ مِنِّي فَبَسَطْتُ ثَوْبِي حَتَّى قَضَى حَدِيثَهُ ثُمَّ ضَمَمْتُهُ إِلَيَّ فَمَا نَسِيتُ شَيْئًا سَمِعْتُهُ مِنْهُ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے وائي چه تاسو ګمان کوئ چه ابوهريره ؓ د رسول الله ﷺ حديثونه ډير بيانوي. او الله حساب کولو والا (کچرے زهٔ دروغ وايم يا تاسو په ما باندے غلط ګمان کوئ) زهٔ يو مسکين سړے وم. د رسول الله ﷺ خدمت به مے د ګيډے په ډکولو سره کولو. او مهاجرو ته په بازارونو کښې معاملے کولو نه فرصت نهٔ وو او انصار به د خپلو مالونو په حفاظت او خدمت کښې مصروف وو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل کوم سړی چه خپله کپړه اوغوړوله هغه چه خما نه څهٔ واوري نو هغه به ترے نهٔ هيريږي. ما خپله کپړه اوغوړوله تردے پورے چه حضرت ﷺ حديث بيان کړو. بيا ما هغه کپړه د خپلے سينے سره اولګوله پس نهٔ هيريږي خما نه هيڅ خبره کومه چه مے د حضرت ﷺ نه اوريدلی وی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ غَيْرَ أَنَّ مَالِكًا انْتَهَى حَدِيثُهُ عِنْدَ انْقِضَاءِ قَوْلِ أَبِي هُرَيْرَةَ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِهِ الرِّوَايَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَبْسُطْ ثَوْبَهُ إِلَى آخِرِهِ

د ابوهريره ؓ نه هم دا حديث مروی دے مګر په دے روايت کښې مالك (راوی) د ابوهريره ؓ د خبرے پورے خپل حديث بيان کړے دے او په دے کښې د رسول الله ﷺ دا فرمان ذکر کړے شوے نهٔ دے چه: څوك خپله کپړا اوغوړوی د آخره پورے.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ أَلَا يُعْجِبُكَ أَبُو هُرَيْرَةَ جَاءَ فَجَلَسَ إِلَى جَنْبِ حُجْرَتِي يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْمِعُنِي ذَلِكَ وَكُنْتُ أُسَبِّحُ فَقَامَ قَبْلَ أَنْ أَقْضِيَ سُبْحَتِي وَلَوْ أَدْرَكْتُهُ لَرَدَدْتُ عَلَيْهِ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ كَسَرْدِكُمْ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَقَالَ ابْنُ

د عروه بن زبير ؓ نه روايت دے چه حضرت عائشے ؓ اووے. تاسو تعجب نهٔ کوئ: ابوهريره ؓ راغے او خما د حجرے به يو طرف کښې کيښناستو او د رسول الله ﷺ حديث ئے بيانولو. ما اوريدل ليکن هغه وخت ما تسبيح لوستله. او خما د فارغ کيدو نه مخکښې هغه لاړو. کچرے ما هغه موندلے وے نو د هغهٔ رد به مے کړے وو. ځکه چه رسول الله ﷺ په دے شان زرزر خبرے نهٔ کولے لکه څنګه چه تهٔ کوے. ابوهريره ؓ اووے خلق وائي چه ابوهريره ؓ ډير

بنِ حَرْبٍ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ الْمُسْلِمُوْنَ لَا يَنْظُرُونَ إِلَى أَبِي سُفْيَانَ وَلَا يُقَاعِدُونَهُ فَقَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا نَبِيَّ اللهِ ثَلَاثٌ أَعْطِنِيهِنَّ قَالَ نَعَمْ قَالَ عِنْدِي أَحْسَنُ الْعَرَبِ وَأَجْمَلُهُ أُمُّ حَبِيبَةَ بِنْتُ أَبِي سُفْيَانَ أُزَوِّجُكَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ وَمُعَاوِيَةُ تَجْعَلُهُ كَاتِبًا بَيْنَ يَدَيْكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَتُؤَمِّرُنِي حَتَّى أُقَاتِلَ الْكُفَّارَ كَمَا كُنْتُ أُقَاتِلُ الْمُسْلِمِينَ قَالَ نَعَمْ قَالَ أَبُو زُمَيْلٍ وَلَوْلَا أَنَّهُ طَلَبَ ذٰلِكَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَعْطَاهُ ذٰلِكَ لِأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يُسْأَلُ شَيْئًا إِلَّا قَالَ نَعَمْ

فضیلت

د عبد الله بن عباس نه روایت دے چه مسلمانانو به د ابوسفیان په طرف نظر نه کولو نۀ به د هغوی سره کښیناستو، ولے چه ابوسفیان څو خله د رسول اللهﷺ سره جنګیدلے وو او د مسلمانانو سخت دشمن وو) یو ځل هغه رسول اللهﷺ ته اووے اے د الله نبی درے خبرے په ما باندے عنایت اوفرمایئ حضرتﷺ ورته اوفرمائیل ښه ده. ابوسفیان اووے ځما سره داسے ښځه ده چه په ټولو عربو کښې ښکلے ده. اُمّ حبیبه ځما لور ده. زۀ د هغے نکاح ستاسو سره کول غواړم. حضرتﷺ اوفرمائیل ښه ده. دویم دا چه ځما ځوئ معاویه تاسو خپل منشی جوړ کړئ حضرتﷺ اوفرمائیل ښه ده. دریم دا چه ما ته حکم اوکړئ چه د کفارو سره اوجنګیږم (لکه د اسلام راوړو نه مخکښې چه به د مسلمانانو سره جنګیدم. حضرتﷺ اوفرمائیل ښه ده. ابوزمیل وائی کچرے هغه ددے خبرو سوال د حضرتﷺ نه نۀ وے کړے نو حضرتﷺ نۀ ورکولو. ددے دپاره چه به ابوسفیان د کومے کومے خبرے سوال د حضرتﷺ نه کولو نو حضرتﷺ به آو فرمائیل او هغه سوال به ئے قبلولو[1].

---

[1] دا د حضرت حُسنِ خلق وو او مصلحتً هم وو. ځکه چه ابوسفیان د کافرانو سردار وو د هغۀ تالیف قلب هم ضروری وو هر چند د ابوسفیان اسلام [illegible] څۀ نه مخکښې د مرګ د یرے نۀ وو مګر روستو چه پوخ شوے وو او هر کله چه بنده اسلام قبول کړی نو د هغۀ د کفر د وخت قصور ټول معاف کیږی او حضرتﷺ د وحشی د قاتل حمزه اسلام قبول کړو. نوویؒ وائی په دے حدیث کښې دا اشکال دے چه ابوسفیان د فتح مکے په ورځ په کال ۸ھ کښې اسلام راوړو او د اُم حبیبه سره حضرتؐ په کال ۶ھ یا په کال ۷ھ کښې نکاح اوفرمائیله په مدینه کښې یا په حبشه کښې او دا نکاح حضرت عثمان یا خالد بن سعید یا نجاشی د حبشو بادشاه کړے وه ابن حزم وائی د مسلم په روایت کښې وهم دے د راوی ځکه چه په دے باندے اتفاق دے چه حضرتﷺ د اُم حبیبه سره د فتح مکے نه مخکښې نکاح کړے وه څۀ وخت چه د هغے پلار کافر وو ابن حزم دا هم وئیلی دی چه دا روایت موضوعی دے او د دے جوړونکے عکرمه بن عمار دے او شیخ ابن صلاح په ابن حزم رد کړے دے چه دا د ابن حزم بهادری ده او په عکرمه بن عمار باندے هیچا د وضع تهمت نۀ دے لګولے بلکه وکیع او یحیٰی بن معین هغۀ ته ثقه وئیلی دی او هغه مستجاب الدّعوات وو. او د ابوسفیان مطلب ددے نه

الْمُسَيَّبِ إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ يَقُولُونَ إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَدْ أَكْثَرَ وَاللَّهُ الْمَوْعِدُ وَيَقُولُونَ مَا بَالُ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ لَا يَتَحَدَّثُونَ مِثْلَ أَحَادِيثِهِ وَسَأُخْبِرُكُمْ عَنْ ذَلِكَ إِنَّ إِخْوَانِي مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ يَشْغَلُهُمْ عَمَلُ أَرَضِيهِمْ وَإِنَّ إِخْوَانِي مِنَ الْمُهَاجِرِينَ كَانَ يَشْغَلُهُمُ الصَّفْقُ بِالْأَسْوَاقِ وَكُنْتُ أَلْزَمُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مِلْءِ بَطْنِي فَأَشْهَدُ إِذَا غَابُوا وَأَحْفَظُ إِذَا نَسُوا وَلَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا أَيُّكُمْ يَبْسُطُ ثَوْبَهُ فَيَأْخُذُ مِنْ حَدِيثِي هَذَا ثُمَّ يَجْمَعُهُ إِلَى صَدْرِهِ فَإِنَّهُ لَمْ يَنْسَ شَيْئًا سَمِعَهُ فَبَسَطْتُ بُرْدَةً عَلَيَّ حَتَّى فَرَغَ مِنْ حَدِيثِهِ ثُمَّ جَمَعْتُهَا إِلَى صَدْرِي فَمَا نَسِيتُ بَعْدَ ذَلِكَ الْيَوْمِ شَيْئًا حَدَّثَنِي بِهِ وَلَوْلَا آيَتَانِ أَنْزَلَهُمَا اللَّهُ فِي كِتَابِهِ مَا حَدَّثْتُ شَيْئًا أَبَدًا إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى إِلَى آخِرِ الْآيَتَيْنِ.

حديثونه بيانوى. او الله تعالىٰ چاڼز كولو والا دے او دا هم وائى چه مهاجرين او انصار د ابوهريره پشان حديثونه نه بيانوى او زهٔ تاسو ته د هغے سبب بيانوم. خما رونړه انصارى چه كوم وو هغه د خپلے زمكے په خدمت كښې مشغول وو. او كوم چه مهاجرين وو هغه د بازار په معاملو كښې مشغول وو. او ما به په ګيډه د كولو د رسول الله ﷺ خدمت كولو. نو زهٔ به حاضر وم او هغه به غائب وو او ما به يادول او هغوى به هيرول او رسول الله ﷺ يوه ورځ اوفرمائيل څوك چه ستاسو نه خپله كپړه اوغوړوى او خما حديث واورى بيا هغه كپړه د خپلے سينے سره اولګوى نو كومه خبره چه واورى هغه به ترے نۀ هيريږى. ما خپل څادر خور كړو ترد ے پورے چه حضرت ﷺ د حديثو نه فارغ شو. بيا ما هغه څادر د سينے سره اولګوو. د هغه ورځے نه خما نه د حضرت ﷺ يوه خبره چه هغوى فرمائيلى ده نۀ ده هيره شوے. او كچرے دا دوه آيتونه نازل شوى په قرآن مجيد كښې نۀ وے. نو ما به هيڅ يو كس ته يو حديث هم بيان كړے نۀ وو. د هغے آيتونو ترجمه داده: كوم خلق چه پټوى هغه څۀ چه نازل كړى دى مونږه د دلائلو ظاهرو او هدايت خبرے، په هغوى باندے لعنت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّكُمْ تَقُولُونَ إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ يُكْثِرُ الْحَدِيثَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے هغوى اووئيل. تاسو خلق وايئ چه ابوهريره د رسول الله ﷺ نه زيات احاديث روايت كوى د پورتنى پشان.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ وَأَهْلِ بَدْرٍ

باب: د حاطب بن ابى بلتعه او د بدر والاؤ رضى الله تعالىٰ عنهم فضيلت

عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ وَهُوَ كَاتِبُ عَلِيٍّ

د عبيد الله بن ابورافعؓ نه روايت دے چه د حضرت علىؓ منشى

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ جَعْفَرٍ وَأَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ وَأَهْلِ سَفِينَتِهِمْ

باب د جعفر بن ابی طالب او اسماء بنت عمیس او د هغوی د کشتئ والاؤ فضیلت

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ بَلَغَنَا مَخْرَجُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ بِالْيَمَنِ فَخَرَجْنَا مُهَاجِرِينَ إِلَيْهِ أَنَا وَأَخَوَانِ لِي أَنَا أَصْغَرُهُمَا أَحَدُهُمَا أَبُو بُرْدَةَ وَالْآخَرُ أَبُو رُهْمٍ إِمَّا قَالَ بِضْعًا وَإِمَّا قَالَ ثَلَاثَةً وَخَمْسِينَ أَوْ اثْنَيْنِ وَخَمْسِينَ رَجُلًا مِنْ قَوْمِي قَالَ فَرَكِبْنَا سَفِينَةً فَأَلْقَتْنَا سَفِينَتُنَا إِلَى النَّجَاشِيِّ بِالْحَبَشَةِ فَوَافَقْنَا جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَأَصْحَابَهُ عِنْدَهُ فَقَالَ جَعْفَرٌ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَنَا هَاهُنَا وَأَمَرَنَا بِالْإِقَامَةِ فَأَقِيمُوا مَعَنَا فَأَقَمْنَا مَعَهُ حَتَّى قَدِمْنَا جَمِيعًا قَالَ فَوَافَقْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ فَأَسْهَمَ لَنَا أَوْ قَالَ أَعْطَانَا مِنْهَا وَمَا قَسَمَ لِأَحَدٍ غَابَ عَنْ فَتْحِ خَيْبَرَ مِنْهَا شَيْئًا إِلَّا لِمَنْ شَهِدَ مَعَهُ إِلَّا لِأَصْحَابِ سَفِينَتِنَا مَعَ جَعْفَرٍ وَأَصْحَابِهِ قَسَمَ لَهُمْ مَعَهُمْ قَالَ فَكَانَ نَاسٌ مِنَ النَّاسِ يَقُولُونَ لَنَا يَعْنِي لِأَهْلِ السَّفِينَةِ نَحْنُ سَبَقْنَاكُمْ بِالْهِجْرَةِ قَالَ فَدَخَلَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ وَهِيَ مِمَّنْ قَدِمَ مَعَنَا عَلَى حَفْصَةَ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے وائی چه مونږ په یمن کښې وو ریدل چه رسول اللهﷺ د مکے نه را بهر شو نو مونږ هم د حضرتﷺ مخے ته راووتو په هجرت کولو سره یو زهٔ وم او دوه خما وارهٔ رونړه وو. چه د یو نوم ابوبرده وو او د دویم نوم ابورهم او څهٔ سړی درے پنځوس یا دوه پنځوس زمونږ د قوم وو. نو مونږ په یوه کشتئ کښې سوارهٔ شو. هغه کشتئ د حبشو په طرف لاړه چه د هغه ځائے بادشاه نجاشی وو. هلته مونږ ته جعفر بن ابی طالب او د هغوی ملګری میلاؤ شو. جعفر اووے چه رسول اللهﷺ زهٔ دلته رالیږلے یم او راته ئے فرمائیلی دی چه دلته حصار شه. نو تاسو هم زمونږ سره حصار شئ. ابوموسیٰ وائی مونږ د هغوی سره حصار شو تر دے پورے چه مونږ ټول په یو ځائے مدینے ته راغلو. دغه وخت رسول اللهﷺ خیبر فتح کړے وو نو د هغه ځائے په مال غنیمت کښې ئے زمونږ حصه اولګوله. څوک چه د خیبر په جنګ کښې غائب وو هغوی ته حصه میلاؤ نهٔ شوه علاوه زمونږ د کشتئ والاؤ نه کوم چه د جعفر او د هغوی د ملګرو سره وو حضرتﷺ د هغوی حصه هم اولګوله ځنے خلقو مونږ ته اووئیل چه مونږ ستاسو نه مخکښې هجرت کړے وو بیا اسماء بن عمیس چه زمونږ سره راغلے وه د ام المؤمنین حضرت حفصےؓ د ملاقات دپاره. هغوی هم هجرت کړے وو د نجاشی بادشاه حبش په

تجدید عقد د نکاح وو یا به هغه دا ګڼړله چه د لور نکاح بغیر د پلار د مرضئ نه ناجائز دے. خکه چه حضرتﷺ صرف بنه او فرمائیل نهٔ ئے تجدید عقد او کړو نهٔ ئے ابوسفیان ته دا اوفرمائیل چه تجدید عقد ضروری دے انتهیٰ مختصراً

قَالَ سَمِعْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ يَقُولُ بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ فَقَالَ ائْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوهُ مِنْهَا فَانْطَلَقْنَا تَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا فَإِذَا نَحْنُ بِالْمَرْأَةِ فَقُلْنَا أَخْرِجِي الْكِتَابَ فَقَالَتْ مَا مَعِي كِتَابٌ فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَتُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا فَأَتَيْنَا بِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا فِيهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى نَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا حَاطِبُ مَا هٰذَا قَالَ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا فِي قُرَيْشٍ قَالَ سُفْيَانُ كَانَ حَلِيفًا لَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهَا وَكَانَ مِمَّنْ كَانَ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ لَهُمْ قَرَابَاتٌ يَحْمُونَ بِهَا أَهْلِيهِمْ فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي ذٰلِكَ مِنَ النَّسَبِ فِيهِمْ أَنْ أَتَّخِذَ فِيهِمْ يَدًا يَحْمُونَ بِهَا قَرَابَتِي وَلَمْ أَفْعَلْهُ كُفْرًا وَلَا ارْتِدَادًا عَنْ دِينِي وَلَا رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ فَقَالَ

وو هغوی وانی ما اوریدلی دی د حضرت علیؓ نه هغوی وئیل چه رسول الله ﷺ ما لره او زبیر او مقداد لره اولیږل. او راته ئے اوفرمائیل د شفتالو باغ ته لاړ شئ هلته یوه ښخه په اوښ سوره ده د هغې سره یو خط دے هغه خط د هغې نه واخلئ راوړئ مونږ په اسونو په منډه منډه لاړو ناڅاپه هغه ښخه مونږ ته میلاؤ شوه مونږ هغې ته اووے خط رااوباسه. هغې اووے ځما سره خط نشته دے. مونږ اووے خط راکړه یا خپلے کپړے اوباسه. بیا ما هغه خط د هغې د کونسئ نه رااوویستهٔ او د رسول الله ﷺ خواله مے راوړو په هغې کښ لیکلی وو د حاطب بن بلتعه د طرفنه د مکے د مشرکانو په نوم د رسول الله ﷺ د ځنے خبرو ذکر وو (او په یو روایت کښ دی چه حاطب په دے کښ د رسول الله ﷺ تیاری او د فوج د رضامندی او د مکے د روانګئ نه کافرانو لره خبر کړل) حضرتؐ اوفرمائیل اے حاطبه! دا تا څهٔ اوکړل. هغهٔ اووے تاسو جلتی مهٔ کوئ یا رسول الله (یعنی فوراً ماله سزا مهٔ راکوئ ځما حال واؤرئ) زهٔ د قریشو سره میلاؤ یو سړے وم یعنی د هغوی حلیف وم او د قریشو نه نهٔ وم. او ستاسو سره مهاجرین چه کوم دی د هغوی رشته دار په قریشو کښ ډیر دی چه د هغې په وجه د هغوی د کور کالهٔ بچ کیدل رابچ کیدل کیږی. نو ما دا غوښته چه ځما خپلولی خو د قریشو نه نهٔ ده. چه زهٔ هم یو کار د هغوی داسے اوکړم چه په هغې سره ځما د خپلوانو بچاؤ راشی او ما دا کار په دے وجه نهٔ دے کړے چه زهٔ کافر شوےیم یا مرتد شوےیم نهٔ زهٔ د مسلمانیدو نه پس په کفر باندے خوشحاله یم. رسول الله ﷺ

زَوجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرَةً وَقَدْ كَانَتْ هَاجَرَتْ إِلَى النَّجَاشِيِّ فِيمَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِ فَدَخَلَ عُمَرُ عَلَى حَفْصَةَ وَأَسْمَاءُ عِنْدَهَا فَقَالَ عُمَرُ حِينَ رَأَى أَسْمَاءَ مَنْ هَذِهِ قَالَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ قَالَ عُمَرُ الْحَبَشِيَّةُ هَذِهِ الْبَحْرِيَّةُ هَذِهِ فَقَالَتْ أَسْمَاءُ نَعَمْ فَقَالَ عُمَرُ سَبَقْنَاكُمْ بِالْهِجْرَةِ فَنَحْنُ أَحَقُّ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكُمْ فَغَضِبَتْ وَقَالَتْ كَلِمَةً كَذَبْتَ يَا عُمَرُ كَلَّا وَاللهِ كُنْتُمْ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطْعِمُ جَائِعَكُمْ وَيَعِظُ جَاهِلَكُمْ وَكُنَّا فِي دَارِ أَوْ فِي أَرْضِ الْبُعَدَاءِ الْبُغَضَاءِ فِي الْحَبَشَةِ وَذَلِكَ فِي اللهِ وَفِي رَسُولِهِ وَايْمُ اللهِ لَا أَطْعَمُ طَعَامًا وَلَا أَشْرَبُ شَرَابًا حَتَّى أَذْكُرَ مَا قُلْتَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ كُنَّا نُؤْذَى وَنُخَافُ وَسَأَذْكُرُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَسْأَلُهُ وَ وَاللهِ لَا أَكْذِبُ وَلَا أَزِيغُ وَلَا أَزِيدُ عَلَى ذَلِكَ قَالَ فَلَمَّا جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ يَا نَبِيَّ اللهِ إِنَّ عُمَرَ قَالَ كَذَا وَكَذَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِأَحَقَّ بِي مِنْكُمْ وَلَهُ وَلِأَصْحَابِهِ هِجْرَةٌ وَاحِدَةٌ وَلَكُمْ أَنْتُمْ أَهْلَ السَّفِينَةِ هِجْرَتَانِ قَالَتْ فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَبَا مُوسَى وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ يَأْتُونِي أَرْسَالًا يَسْأَلُونِي

طرف او په ملګرو کښې حضرت عمرؓ د حفصېؓ خواله لاړو هلته اسماء موجوده وه. حضرت عمرؓ چه هر کله اسماءؓ اولیده نو تپوس ئې اوکړو دا څوك ده؟ هغې اووے اسماء بنت عمیس حضرت عمرؓ اووے حبش والا دریاب والا دغه ښځه ده. اسماءؓ اووے آو. حضرت عمرؓ اووے. مونږ ستاسو نه مخکښې هجرت کړے دے نو مونږ زیات حق لرو ستاسو نه د رسول اللهﷺ په طرف. دد ے په اوریدو اسماء غصه شوه اواوئې وئیل اے عمره! دا تا غلطه اووے.هیڅکله نه. په الله قسم دے ته د رسول اللهﷺ سره وے ستاسو اوږو ته به ئې نصیحت کولو مونږ د یو بل نه لرے په دشمن ملك کښې وو (یعنی د کافرو په ملك کښې ولې چه سوا د نجاشی نه هلته بل څوك مسلمان نه وو او هغه هم د خپل قوم نه په پټه مسلمان شوے وو) صرف د الله دپاره او د هغهٔ د رسولؑ دپاره او قسم په خدائې چه زهٔ نهٔ غله خورم او نهٔ اوبهٔ څښم تر هغې پورے چه تا څهٔ وئیلی دی د هغې ذکر مې رسول اللهﷺ ته کړے نهٔ وی او مونږ ته به په حبشو کښې د تکلیف رسیدو یره هم وه. زهٔ به د هغې عرض حضرتﷺ ته کوم او د حضرتﷺ نه به تپوس کوم. په الله قسم دے چه زهٔ دروغ نهٔ وایم نهٔ بے لارے خم نهٔ زیاتے وایم. هرکله چه رسول اللهﷺ تشریف راوړو نو اسماءؓ عرض اوکړو اے د الله نبی! عمر داسې داسې وائی. حضرتﷺ اوفرمائیل هغه زیات حق نهٔ لری ستاسو نه. د هغوی او د هغوی د ملګرو یو هجرت دے (د مکے نه مدینے ته) او ستاسو تولو کشتئ والاؤ دوه هجرتونه دی (یو د مکے نه حبشو ته او بل د حبشو نه مدینے ته) اسماءؓ وائی چه ما ابوموسیٰؓ او کشتئ والا

عُمَرُ دَعْنِي يَا رَسُولَ اللهِ أَضْرِبْ عُنُقَ هٰذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ أَبِي بَكْرٍ وَزُهَيْرٍ ذِكْرُ الْآيَةِ وَجَعَلَهَا إِسْحٰقُ فِي رِوَايَتِهِ مِنْ تِلَاوَةِ سُفْيَانَ

اوفرمائيل چه حاطب رښتيا اووے. حضرت عمرؓ اووے تاسو ما پريږدئ يا رسول الله ﷺ چه زۀ ددے منافق څټ اووهم حضرت ﷺ اوفرمائيل دےخو د بدر په جنګ کښ شريك وو او تاته معلومه نۀ ده چه الله تعالى بدر والاؤ ته اطلاع ورکړه او ورته ئےاوفرمائيل. تاسو چه څۀ اعمال غواړئ کوئ (په دے شرط چه کفر او نۀ کړئ) ما تاسو ته بخښنه اوکړه. پس الله تعالى دا ايت نازل کړو "اے ايمان والاؤ! څما دشمن لره او خپل دشمن لره په دوستئ سره مۀ نيسئ"[1].

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا مَرْثَدٍ الْغَنَوِيَّ وَالزُّبَيْرَ بْنَ الْعَوَّامِ وَكُلُّنَا فَارِسٌ فَقَالَ انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا امْرَأَةً مِنَ الْمُشْرِكِينَ مَعَهَا كِتَابٌ مِنْ حَاطِبٍ إِلَى الْمُشْرِكِينَ فَذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ عَنْ عَلِيٍّ

د حضرت علىؓ نه روايت دے چه اوليږلم زۀ او ابومرثد غنوى او زبير لره رسول الله ﷺ او مونږ ټول سوارۀ وو. او اوئے فرمائيل چه خه او کله چه د شفتالو باغ ته اورسيد ئے نو هلته به د مشرکينو يوه ښځه اوموميئ چه د هغے سره يو خط دے د مکے د مشرکينو په طرف د حاطب مخکښ حديث هغسے دے څنګه چه عبيد الله بن ابى رافع د علىؓ نه روايت کړے دے.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ عَبْدًا لِحَاطِبٍ جَاءَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْكُو حَاطِبًا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَيَدْخُلَنَّ حَاطِبٌ النَّارَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَبْتَ لَا يَدْخُلُهَا فَإِنَّهُ شَهِدَ بَدْرًا وَالْحُدَيْبِيَةَ

د جابرؓ نه روايت دے چه د حاطب يو غلام د حاطب نه په شکايت کولو د رسول الله ﷺ خواله راغے. او اوئے وئيل چه يا رسول الله! حاطب به ضرور دوزخ ته ځى. حضرت ﷺ اوفرمائيل ته دروغجن ئے حاطب به دوزخ ته نۀ ځى. هغه په بدر او حديبيه کښ شريك وو.

[1] نووىؒ وائى په دے حديث کښ د حضرت ﷺ لويه معجزه ده. او دا معلومه شوه چه جاسوس نيول او د هغۀ پرده ښکاره کول صحيح دى او جاسوس کافر نۀ وى. مګر داسے جاسوسى چه د مسلمانانو په خلاف کښ وى سخت کبيره ګناه ده. او د څنے ماليکيؤ په نزد د هغۀ قتل هم جائز دے اګر که توبه اوباسى او د شافعىؒ په نزد به هغۀ له سزا ورکوى او قتلوى به ئے نه او د بدر د شريکدونکو د معاف کيدو نه دا مطلب دے چه په آخرت کښ به پرے مواخذه نۀ وى. مګر په دنيا کښ د هغوى مواخذه اوشوه او په مسطح باندے حد جارى شو هغه بدرى نۀ وو انتهى ملخصاً

عَنْ هذا الْحَدِيثِ مَا مِنَ الدُّنْيَا شَيْءٌ هُمْ بِهِ أَفْرَحُ وَلاَ أَعْظَمُ فِي أَنْفُسِهِمْ مِمَّا قَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُو بُرْدَةَ فَقَالَتْ أَسْمَاءُ فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَبَا مُوسَى وَإِنَّهُ لَيَسْتَعِيدُ هذَا الْحَدِيثَ مِنِّي

اولیدل چه هغه به ټولګی ټولګی خماخواله راتلل او دا حدیث به ئے اوریدو. او ددنیا یو څیز هغوی ته دومره د خوشحالئ نه وو نه دومره لوئے وو د رسول الله ﷺ ددے فرمائیلو نه زیات ابوبرده وائی چه اسماء ؓ وئیلی دی چه ما ابوموسیٰ ؓ اولیدو هغهٔ به خما سره تکرارولو دے حدیث لره (د خوشحالئ دپاره)

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ سَلْمَانَ وَبِلَالٍ ؓ وَصُهَيْبٍ ؓ

باب: د حضرت سلمان فارسی او بلال او صهیب رضی الله عنهم فضیلت

عَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ أَتَى عَلَى سَلْمَانَ وَصُهَيْبٍ وَبِلَالٍ فِي نَفَرٍ فَقَالُوا وَاللهِ مَا أَخَذَتْ سُيُوفُ اللهِ مِنْ عُنُقِ عَدُوِّ اللهِ مَأْخَذَهَا قَالَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَتَقُولُونَ هذَا لِشَيْخِ قُرَيْشٍ وَسَيِّدِهِمْ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ لَعَلَّكَ أَغْضَبْتَهُمْ لَئِنْ كُنْتَ أَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ أَغْضَبْتَ رَبَّكَ فَأَتَاهُمْ أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ يَا إِخْوَتَاهْ أَغْضَبْتُكُمْ قَالُوا لاَ يَغْفِرُ اللهُ لَكَ يَا أُخَيَّ

د عائذ بن عمرو ؓ نه روایت دے چه ابوسفیان د سلمان ؓ او صهیب ؓ او بلال ؓ خواله راغے نور هم څۀ خلق ناست وو. هغوی اووے. د الله تورے د الله د دشمن څټ ته په خپله موقع او نۀ رسیدے (یعنی دا د الله دشمن او نه وژلے شو. ابوبکر اووے تاسو د قریشو د بوډا او سردار په حق کښې داسے وایئ؛ (د ابوبکر د اصلاح په وجه داسے اووے چه چرته ابوسفیان خفه نۀ شی او د اسلام قبلولو نه او نۀ ګرځی) او ابوبکر ؓ د رسول الله ﷺ خواله راغے او هغوی ته ئے بیان اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل اے ابوبکر! تا کیدے شی هغوی خفه کړی وی (یعنی صهیب ؓ او سلمان ؓ او بلال ؓ کچرے تا هغوی خفه کړی وی نو تا خپل پروردګار خفه کړو. ددے په اوریدو ابوبکر ؓ د هغه کسانو خواله راغے او ورته ئے اووئیل اے رونړو! ما تاسو خفه کړی یئ. هغوی اووے نه الله د تا اوبخښی اے زمونږ روره[1].

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ الْأَنْصَارِ

باب: د انصارو ؓ فضیلت

---

[1] نووی ؒ وائی دا د هغه وخت ذکر دے هر کله چه ابوسفیان کافر وو او د صلح کولو دپاره مسلمانانو ته راغلے وو او په دے کښې فضیلت دے د سلمان ؓ او د هغوی د ملګرو او حکم دے د کمزورو او د اهل دین د خاطر دارئ او د زړۀ ساتلو

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ أَهْلِ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ

عَنْ أُمِّ مُبَشِّرٍ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عِنْدَ حَفْصَةَ لَا يَدْخُلُ النَّارَ إِنْ شَاءَ اللهُ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ أَحَدٌ الَّذِيْنَ بَايَعُوا تَحْتَهَا قَالَتْ بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ فَانْتَهَرَهَا فَقَالَتْ حَفْصَةُ وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِيْنَ فِيهَا جِثِيًّا

باب د اونې لاندې د رسول الله ﷺ نه د بيعت رضوان كولو والاؤ فضيلت

د أم مبشر نه روايت دې چه هغه اوريدلي دي رسول الله ﷺ نه چه د مؤمنانو د مور حضرت حفصې په خوا كښې نے فرمائيل كچرې الله غواړي نو د اصحابو شجره نه به يو هم دوزخ ته لاړ نه شي. يعني كومو خلقو چه بيعت كړې دې د هغه اونې د لاندې. هغوی اووې عجيبه ده يا رسول الله ﷺ ولې به نه ځي. حضرت ﷺ هغه اورټله هغوی اووې الله تعالى فرمائيل دی وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا يعنى څوك ستاسو نه داسې نشته دې چه هغه به جهنم ته نه ځي. رسول الله ﷺ اوفرمائيل ددې ايت نه پس داسې دی ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِيْنَ فِيهَا جِثِيًّا. يعنى بيا به مونږ خلاصې وركړو پرهيزګارانو لره. او پريږدو به ظالمانو لره د زنګونانو په سرونو په هغې (يعنى جهنم) كښې[1]

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي مُوسَى وَأَبِي عَامِرٍ الْأَشْعَرِيَّيْنِ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَازِلٌ بِالْجِعْرَانَةِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ وَمَعَهُ بِلَالٌ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ أَلَا تُنْجِزُ لِي يَا مُحَمَّدُ مَا وَعَدْتَنِي فَقَالَ لَهُ

باب. د ابوموسى او د ابوعامر اشعرى رضى الله تعالى عنهما فضيلت

د ابو موسى نه روايت دې چه زۀ د رسول الله ﷺ سره وم. هغوی په جعرانه د مكې او مدينې په مينځ كښې وو او د حضرت ﷺ سره بلال هم وو چه په دې كښې يو بانده چې د حضرت ﷺ خواله راغې. او اوئې وئيل يا رسول الله ﷺ خپله وعده نۀ پوره كوې. حضرت اوفرمائيل خوشحاله شه. هغۀ

[1] مطلب دا دې چه ښه او بد به تول په پُل صراط باندې تيريږي او هغه پُل په جهنم باندې دې. پس ښه يعنى نيك خلق به پرې لكه د برق پشان تيريږي او بد كرداره خلق به ورته د زنګونانو په سرور غور خيږي دوزخ ته

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ فِينَا نَزَلَتْ إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا وَاللهُ وَلِيُّهُمَا بَنُو سَلِمَةَ وَبَنُو حَارِثَةَ وَمَا نُحِبُّ أَنَّهَا لَمْ تَنْزِلْ لِقَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَاللهُ وَلِيُّهُمَا

د جابر بن عبد الله نه روايت دے وائي چه دا آيت "هر كله چه اراده اوكړه هغه دوو ډلو ستاسونه د بُزدلئ او الله مددګار دے د دے دواړو" زمونږ خلقو په باب كښې نازل شوے دے په بني سلمه او بني حارث كښې. او مونږ نهٔ غواړو چه دا آيت نه وے نازل شوے. ځكه چه الله تعالى فرمائي الله مالك دے د هغوى دواړو[1].

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَلِأَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ وَأَبْنَاءِ أَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ

د زيد بن ارقم نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. يا الله اوبخښے انصارو لره او د انصارو ځامنو او نمسو لره.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د شعبه په دے اسناد سره روايت دے

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَغْفَرَ لِلْأَنْصَارِ قَالَ وَأَحْسِبُهُ قَالَ وَلِذَرَارِيِّ الْأَنْصَارِ وَلِمَوَالِي الْأَنْصَارِ لَا أَشُكُّ فِيهِ

د انس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ دُعا اوكړه د انصارو د بخښنے دپاره او د انصارو د اولاد او د غلامانو دپاره.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى صِبْيَانًا وَنِسَاءً مُقْبِلِينَ مِنْ عُرْسٍ فَقَامَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُمْثِلًا فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ اَللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ يَعْنِي الْأَنْصَارَ

د انس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ماشومانو او ښځو لره د واده نه په راتلو اوليدل نو حضرت ﷺ ئے مخے ته اودريدو او ورته ئے فرمائيل اے خلقو! تاسو د ټولو خلقو نه زيات ما ته غوره يئ: اے خلقو! تاسو د ټولو خلقو نه زيات ماته غوره يئ: يعني انصارو ته ئے اوفرمائيل.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ جَاءَتْ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَخَلَا بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّكُمْ

د انس بن مالك نه روايت دے وائي چه د انصارو يوه ښځه د رسول الله ﷺ خواله راغله حضرت ﷺ د هغے سره خانله شو (كيدے شي چه هغه محرمه وه لكه اُم سليم يا ام حرام وه يا د خانله كيدو نه دا مراد دے چه هغے د خلقو نه جدا د څهٔ خبرے د حضرت ﷺ نه تپوس اوكړو)

[1] نو په دے جمله سره دا سے خوشحالى ده چه د روستو لفظ په نازليدو سره څهٔ غم پاتے نهٔ شو بنو سلمه د خزرج نه او بنو حارثه د اوس نه وه او دا دواړه د انصارو قبيلے دي. كوم وخت چه حضرت ﷺ د بدر دپاره راااووتو نو عبد الله بن أبي منافق د خان سره درے حصے دلارے نه واپس كړل او دے دواړو قبيلو هم دهغه سره ملګرتيا غوښتله بيا الله تعالى هغوى بچ كړل

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْشِرْ فَقَالَ لَهُ الأَعْرَابِيُّ أَكْثَرْتَ عَلَيَّ مِنْ أَبْشِرْ فَأَقْبَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلَى أَبِي مُوسَى وَبِلَالٍ كَهَيْئَةِ الْغَضْبَانِ فَقَالَ إِنَّ هٰذَا قَدْ رَدَّ الْبُشْرَى فَاقْبَلَا أَنْتُمَا فَقَالَا قَبِلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ ثُمَّ دَعَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِقَدَحٍ فِيهِ مَاءٌ فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ فِيهِ وَمَجَّ فِيهِ ثُمَّ قَالَ اشْرَبَا مِنْهُ وَأَفْرِغَا عَلَى وُجُوهِكُمَا وَنُحُورِكُمَا وَأَبْشِرَا فَأَخَذَا الْقَدَحَ فَفَعَلَا مَا أَمَرَهُمَا بِهِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَنَادَتْهُمَا أُمُّ سَلَمَةَ مِنْ وَرَاءِ السِّتْرِ أَفْضِلَا لِأُمِّكُمَا مِمَّا فِي إِنَائِكُمَا فَأَفْضَلَا لَهَا مِنْهُ طَائِفَةً

عَنْ أَبِي عَامِرٍ قَالَ لَمَّا فَرَغَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حُنَيْنٍ بَعَثَ أَبَا عَامِرٍ عَلَى جَيْشٍ إِلَى أَوْطَاسٍ فَلَقِيَ دُرَيْدَ بْنَ الصِّمَّةِ فَقُتِلَ دُرَيْدٌ وَهَزَمَ اللهُ أَصْحَابَهُ فَقَالَ أَبُو مُوسَى وَبَعَثَنِي مَعَ أَبِي عَامِرٍ قَالَ فَرُمِيَ أَبُو عَامِرٍ فِي رُكْبَتِهِ رَمَاهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي جُشَمٍ بِسَهْمٍ فَأَثْبَتَهُ فِي رُكْبَتِهِ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ يَا عَمِّ مَنْ رَمَاكَ فَأَشَارَ أَبُو عَامِرٍ إِلَى أَبِي مُوسَى فَقَالَ إِنَّ ذَاكَ قَاتِلِي تَرَاهُ ذٰلِكَ الَّذِي رَمَانِي قَالَ أَبُو مُوسَى فَقَصَدْتُ لَهُ فَاعْتَمَدْتُهُ فَلَحِقْتُهُ فَلَمَّا رَآنِي وَلَّى عَنِّي

اووے تاسو ډیر فرمایۍ خوشحاله شه. بیا حضرت ﷺ د غصے په شکل د بلالؓ او ابوموسیٰؓ په طرف متوجه شو او اونے فرمائیل دهٔ خو رد کړلو زیری لره تاسو ئے قبول کړئ. موږ دواړو اووے موږ قبول کړے دے. بیا حضرت ﷺ یو لوښے د اوبو اوغوښتو او دواړه لاسونه او مخ مبارك ئے وینځلو او په هغے کښ ئے لاړے مبارکے هم اوتوکلے بیائے اوفرمائیل تاسو دواړه دا اوبهٔ اوڅښئ او په خپل مخ او سینه باندے ئے واچوئ او خوشحاله شئ. پس هغوی دواړو هغه لوښے راواخستو او هم هغه شان ئے اوکړو څهٔ چه حضرت ﷺ حکم کړے وو. پس د مؤمنانو مور اُم سلمهؓ د پردے نه روستو آواز اوکړو چه د خپلے مور دپاره هم څهٔ پاتے شوے اوبهٔ راوړئ او هغه هغے لره هم باقی پاتے اوبهٔ ورکړے.

د ابوعامرؓ نه روایت دے وائی چه هر کله رسول الله ﷺ د حنین د جنګ نه فارغ شو نو ابوعامر ته ئے لښکر ورکړو او په اوطاس باندے اولیږو او ورید بن الصّمه د هغوی مقابله اوکړه لیکن الله تعالی ورید بن الصّمه قتل کړو او د هغهٔ لښکر له ئے شکست ورکړو. ابوموسیٰؓ وائی چه زهٔ هم رسول الله ﷺ د ابوعامر سره لیږلے وم. بیا د ابوعامر په زنګون کښ یو غشے اولګیدو. هغه غشے د بنی جشم یو سړی راووېشتو او د هغهٔ په زنګون کښ اونختو. زهٔ د هغوی خواله لاړم او تپوس مے ترے اوکړو چه اے کاکاجی په دے غشے تهٔ چا اوویشتے. ابوعامر ما ته اوښوده چه دغه سړی زهٔ قتل کړے او دغه سړی زهٔ په غشی ویشتلے یم ابو موسیٰؓ وائی زهٔ په هغه سړی پسے لاړم تر دے پورے چه د هغهٔ سره هیلاؤ شوم. هغه چه

ذَاهِبًا فَاتَّبَعْتُهُ وَجَعَلْتُ أَقُولُ لَهُ أَلَا تَسْتَحِي أَلَسْتَ عَرَبِيًّا أَلَا تَثْبُتُ فَكَفَّ فَالْتَقَيْتُ أَنَا وَهُوَ فَاخْتَلَفْنَا أَنَا وَهُوَ ضَرْبَتَيْنِ فَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ فَقَتَلْتُهُ ثُمَّ رَجَعْتُ إِلَى أَبِي عَامِرٍ فَقُلْتُ إِنَّ اللَّهَ قَدْ قَتَلَ صَاحِبَكَ قَالَ فَانْزِعْ هَذَا السَّهْمَ فَنَزَعْتُهُ فَنَزَا مِنْهُ الْمَاءُ فَقَالَ يَا ابْنَ أَخِي انْطَلِقْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْرِئْهُ مِنِّي السَّلَامَ وَقُلْ لَهُ يَقُولُ لَكَ أَبُو عَامِرٍ اسْتَغْفِرْ لِي قَالَ وَاسْتَعْمَلَنِي أَبُو عَامِرٍ عَلَى النَّاسِ وَمَكَثَ يَسِيرًا ثُمَّ إِنَّهُ مَاتَ فَلَمَّا رَجَعْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلْتُ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي بَيْتٍ عَلَى سَرِيرٍ مُرْمَلٍ وَعَلَيْهِ فِرَاشٌ وَقَدْ أَثَّرَ رِمَالُ السَّرِيرِ بِظَهْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَنْبَيْهِ فَأَخْبَرْتُهُ بِخَبَرِنَا وَخَبَرِ أَبِي عَامِرٍ وَقُلْتُ لَهُ قَالَ قُلْ لَهُ يَسْتَغْفِرْ لِي فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهُ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ أَبِي عَامِرٍ حَتَّى رَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَوْقَ كَثِيرٍ مِنْ خَلْقِكَ أَوْ مِنَ النَّاسِ فَقُلْتُ وَلِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَاسْتَغْفِرْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَيْسٍ ذَنْبَهُ

هر كله زۀ اوليدم نو په شا اوتښتيدۀ او زۀ پسے شاته سم روان وم. او ما ورته دا وئيل شروع كړل اے بے حيا ولے تۀ عرب نۀ ئے تۀ اودريږے نه ددے په اوريدو هغه اودريدو. بيا خما او د هغۀ مقابله شوه. هغه هم گذار اوكړو او ما هم گذار اوكړو. آخر ما هغه په توره سره اووژو. او بيا واپس د ابوعامر خواله راغلم ما اووے الله ستا قاتل اووژو. ابوعامر اووے اوس دا غشے راوباسه ما چه غشے راوويستو نو د غشي د ځائے نه اوبۀ راووتے (ينه راوتۀ وتله كيدے شي هغه غشے په زهرو ككړ وو) اوبوعامر اووے اے خما ورارۀ! تۀ د رسول الله ﷺ خواله لاړ شه او خماد طرفنه ورته سلام اووايه او دا ورته اووايه چه د ابوعامر دپاره د بخشش دُعا اوغواړه. ابوموسیٰ وائي. ابوعامر زۀ د خلقو سردار كړم او لږ ساعت هغه ژوندے وو بيا وفات شو. بيا زۀ واپس د رسول الله ﷺ په طرف راغلم نو د هغوی خواله لاړم. حضرت په يوه كوټه كښې كښن وو د پړو په يو كټ باندے چه په هغے باندے جوړ وو او د بوڼو نخښه د حضرت ﷺ په شا مباركه او پختو باندے جوړ شوے وو. ما دا خبر بيان كړو او د ابوعامر حال مے هم بيان كړو او ما اووے ابوعامر تاسو ته دا درخواست كړے وو چه خما دپاره دُعا اوغواړئ بيا رسول الله ﷺ اوبۀ اوغوښتے او اودس ئے اوكړو. بيائے دواړه لاسونه مبارك اوچت كړل او وئے فرمائيل يا الله اُوبخښے عُبيد ابوعامر لره (عبيد بن سليم د هغوی نوم وو) تردے پورے چه ما د حضرت ﷺ د دواړو ترخونو سپين والے اوليدو. بيائے اوفرمائيل يا الله ابوعامر د قيامت په ورځ د ډيرو خلقو سردار كړے. ما عرض اوكړو يا رسول الله! او خما دپاره د بخشش دُعا اوفرمايئ. حضرت ﷺ اوفرمائيل

وَأَدْخَلَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُدْخَلًا كَرِيمًا قَالَ أَبُو بُرْدَةَ إِحْدَاهُمَا لِأَبِي عَامِرٍ وَالْأُخْرَى لِأَبِي مُوسَى

اوبخښې یا الله د عبد الله بن قیس گناه لره (دا نوم دے د ابوموسیؓ) او د قیامت په ورځ دۀ لره د عزت کورته بوځه ابوبردهؓ وائی یوه دعائے د ابوعامر دپاره اوکړه او یوه ئے د ابوموسیؓ دپاره

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ الْأَشْعَرِيِّينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

باب: د اشعری خلقو فضیلت

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ أَصْوَاتَ رُفْقَةِ الْأَشْعَرِيِّينَ بِالْقُرْآنِ حِينَ يَدْخُلُونَ بِاللَّيْلِ وَأَعْرِفُ مَنَازِلَهُمْ مِنْ أَصْوَاتِهِمْ بِالْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ وَإِنْ كُنْتُ لَمْ أَرَ مَنَازِلَهُمْ حِينَ نَزَلُوا بِالنَّهَارِ وَمِنْهُمْ حَكِيمٌ إِذَا لَقِيَ الْخَيْلَ أَوْ قَالَ الْعَدُوَّ قَالَ لَهُمْ إِنَّ أَصْحَابِي يَأْمُرُونَكُمْ أَنْ تَنْظُرُوهُمْ

د ابوموسیؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه زۀ د شعریانو آواز د قرآن پاک په تلاوت کښې پیژنم هر کله چه هغه د شپې راځی او د شپې د هغوی په آواز سره د هغوی د اوسیدو ځائے هم پیژنم اگر که د ورځې مے د هغوی د اوسیدو ځائے لیدلے نۀ وی هر کله چه هغه د ورځې راکوز شوے وی. او د هغه خلقو نه یو سړے حکیم دے چه هر کله د کافرانو د سورو یا دشمنانو سره میلاویږی نو هغوی ته وائی چه زمونږ خلق تاسو ته وائی لږ شان مونږ ته فرصت راکړئ یا لږ شان انتظار اوکړئ (یعنی مونږ هم تیاریو جنګ له راځو (نو خپل خان په دا نایئ او حکمت سره بچ کولے شے ولے دشمن دا اوګڼړی چه دے یواځې نه دے بلکه نور خلق ورسره هم دی)

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْأَشْعَرِيِّينَ إِذَا أَرْمَلُوا فِي الْغَزْوِ أَوْ قَلَّ طَعَامُ عِيَالِهِمْ بِالْمَدِينَةِ جَمَعُوا مَا كَانَ عِنْدَهُمْ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ اقْتَسَمُوهُ بَيْنَهُمْ فِي إِنَاءٍ وَاحِدٍ بِالسَّوِيَّةِ فَهُمْ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ

د ابوموسیؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی دشعری خلق هر کله چه په جنګ کښې محتاج شی یا په مدینه کښې د هغوی د بال بچ غله کمه شی نو څۀ چه د هغوی سره وی هغې لره په یوه کپړه کښې راجمع کړی. بیائے په خپلو کښې برابر اوویشی. دا خلق څما دی او زۀ د هغوی یم (یعنی زۀ د هغوی نه راضی یم او داسے اتفاق لره غوره کوم)

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي سُفْيَانَ صَخْرِ

باب: د ابوسفیان رضی الله تعالی عنه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ الْمُسْلِمُوْنَ لَا يَنْظُرُوْنَ اِلَى أَبِيْ سُفْيَانَ وَلَا يُقَاعِدُوْنَهُ فَقَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا نَبِيَّ اللهِ ثَلَاثٌ أُعْطِنِيْهِنَّ قَالَ نَعَمْ قَالَ عِنْدِيْ أَحْسَنُ الْعَرَبِ وَأَجْمَلُهُ أُمُّ حَبِيْبَةَ بِنْتُ أَبِيْ سُفْيَانَ أُزَوِّجُكَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ وَمُعَاوِيَةُ تَجْعَلُهُ كَاتِبًا بَيْنَ يَدَيْكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَتُؤَمِّرُنِيْ حَتّٰى أُقَاتِلَ الْكُفَّارَ كَمَا كُنْتُ أُقَاتِلُ الْمُسْلِمِيْنَ قَالَ نَعَمْ قَالَ أَبُوْ زُمَيْلٍ وَلَوْلَا أَنَّهُ طَلَبَ ذٰلِكَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَعْطَاهُ ذٰلِكَ لِأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يُسْأَلُ شَيْئًا إِلَّا قَالَ نَعَمْ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے چه مسلمانانو به د ابوسفیان په طرف نظر نه کولو نهٔ به د هغوی سره کیښناستو ، ولے چه ابوسفیان څو خله د رسول الله ﷺ سره جنګیدلے وو او د مسلمانانو سخت دشمن وو) یو ځل هغه رسول الله ﷺ ته اووے اے د الله نبی درے خبرے په ما باندے عنایت اوفرمایئ حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ښه ده. ابوسفیان اووے ځما سره داسے ښځه ده چه په ټولو عربو کښې ښکلے ده. اُمّ حبیبه ځما لور ده. زهٔ د هغے نکاح ستاسو سره کول غوارم. حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده. دویم دا چه ځما ځوئ معاویه تاسو خپل منشی جوړ کړئ حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده. دریم دا چه ما ته حکم اوکړئ چه د کفارو سره اوجنګیږم ، لکه د اسلام راوړو نه مخکښې چه به د مسلمانو سره جنګیدم. حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده. ابوزمیل وائی کچرے هغه ددے خبرو سوال د حضرت ﷺ نه نهٔ وے کړے نو حضرت ﷺ نهٔ ورکولو. ددے دپاره چه به ابوسفیان د کومے کومے خبرے سوال د حضرت ﷺ نه کولو نو حضرت ﷺ به آو فرمائیل او هغه سوال به ئے قبلولو[1].

[1] دا د حضرت حُسنِ خلق وو او مصلحتً هم وو. ځکه چه ابوسفیان د کافرانو سردار وو د هغهٔ تالیف قلب هم ضروری وو هر چند د ابوسفیان اسلام [illegible] څهٔ نه مخکښې د مرګ د یرے نهٔ وو مګر روستو چه پوخ شوے وو او هر کله چه بنده اسلام قبول کړی نو د هغهٔ د کفر د وخت قصور ټول معاف کیږی او حضرت ﷺ د وحشی د قاتل حمزه اسلام قبول کړو. نوویؒ وائی په دے حدیث کښې دا اشکال دے چه ابوسفیان د فتح مکے په ورځ په کال ۸ھ کښې اسلام راوړو او د اُم حبیبه سره حضرت په کال ۶ھ یا په کال ۷ھ کښې نکاح اوفرمائیله په مدینه کښې یا په حبشه کښې او دا نکاح حضرت عثمان یا خالد بن سعید یا نجاشی د حبشو بادشاه کړے وه ابن حزم وائی د مسلم په روایت کښې وهم دے د راوی ځکه چه په دے باندے اتفاق دے چه حضرت ﷺ د اُم حبیبه سره د فتح مکے نه مخکښې نکاح کړے وه څهٔ وخت چه د هغے پلار کافر وو ابن حزم دا هم وئیلی دی چه دا روایت موضوعی دے او د دے جوړونکے عکرمه بن عمار دے او شیخ ابن صلاح په ابن حزم رد کړے دے چه دا د ابن حزم بهادری ده او په عکرمه بن عمار باندے هیچا د وضع تهمت نهٔ دے لګولے بلکه وکیع او یحیی بن معین هغهٔ ته ثقه وئیلی دی او هغه مستجاب الدّعوات وو. او د ابوسفیان مطلب ددے نه

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ جَعْفَرٍ وَأَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ وَأَهْلِ سَفِينَتِهِمْ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ بَلَغَنَا مَخْرَجُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ بِالْيَمَنِ فَخَرَجْنَا مُهَاجِرِينَ إِلَيْهِ أَنَا وَأَخَوَانِ لِي أَنَا أَصْغَرُهُمَا أَحَدُهُمَا أَبُو بُرْدَةَ وَالْآخَرُ أَبُو رُهْمٍ إِمَّا قَالَ بِضْعًا وَإِمَّا قَالَ ثَلَاثَةً وَخَمْسِينَ أَوْ اثْنَيْنِ وَخَمْسِينَ رَجُلًا مِنْ قَوْمِي قَالَ فَرَكِبْنَا سَفِينَةً فَأَلْقَتْنَا سَفِينَتُنَا إِلَى النَّجَاشِيِّ بِالْحَبَشَةِ فَوَافَقْنَا جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَأَصْحَابَهُ عِنْدَهُ فَقَالَ جَعْفَرٌ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَنَا هَاهُنَا وَأَمَرَنَا بِالْإِقَامَةِ فَأَقِيمُوا مَعَنَا فَأَقَمْنَا مَعَهُ حَتَّى قَدِمْنَا جَمِيعًا قَالَ فَوَافَقْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ فَأَسْهَمَ لَنَا أَوْ قَالَ أَعْطَانَا مِنْهَا وَمَا قَسَمَ لِأَحَدٍ غَابَ عَنْ فَتْحِ خَيْبَرَ مِنْهَا شَيْئًا إِلَّا لِمَنْ شَهِدَ مَعَهُ إِلَّا لِأَصْحَابِ سَفِينَتِنَا مَعَ جَعْفَرٍ وَأَصْحَابِهِ قَسَمَ لَهُمْ مَعَهُمْ قَالَ فَكَانَ نَاسٌ مِنَ النَّاسِ يَقُولُونَ لَنَا يَعْنِي لِأَهْلِ السَّفِينَةِ نَحْنُ سَبَقْنَاكُمْ بِالْهِجْرَةِ قَالَ فَدَخَلَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ وَهِيَ مِمَّنْ قَدِمَ مَعَنَا عَلَى حَفْصَةَ

باب د جعفر بن ابی طالب او اسماء بنت عمیس او د هغوی د کشتئ والاؤ فضیلت

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے وائی چه مونږ په یمن کښې واوریدل چه رسول اللهﷺ د مکے نه را بهر شو نو مونږ هم د حضرتﷺ مخے ته راااووتو په هجرت کولو سره یو زۀ وم او دوه خما وارۀ رونړه وو. چه د یو نوم ابوبرده وو او د دویم نوم ابورهم او څۀ سری درے پنځوس یا دوه پنځوس زمونږ د قوم وو. نو مونږ په یوه کشتئ کښې سوارۀ شو. هغه کشتئ د حبشو په طرف لاړه چه د هغه ځائے بادشاه نجاشی وو. هلته مونږ ته جعفر بن ابی طالب او د هغوی ملګری میلاؤ شو. جعفر اووے چه رسول اللهﷺ زۀ دلته رالیږلے یم او راته ئے فرمانیلی دی چه دلته حصار شه. نو تاسو هم زمونږ سره حصارشئ. ابوموسیٰ وائی مونږ د هغوی سره حصار شو تردے پورے چه مونږ ټول په یو ځائے مدینے ته راغلو. دغه وخت رسول اللهﷺ خیبر فتح کړے وو نو د هغه ځائے په مال غنیمت کښې ئے زمونږ حصه اولګوله. څوک چه د خیبر په جنګ کښې غائب وو هغوی ته حصه میلاؤ نۀ شوه علاوه زمونږ د کشتئ والاؤ نه کوم چه د جعفر او د هغوی د ملګرو سره وو حضرتﷺ د هغوی حصه هم اولګوله ځنے خلقو مونږ ته اووئیل چه مونږ ستاسو نه مخکښې هجرت کړے وو بیا اسماء بن عمیس چه زمونږ سره راغلے وه د ام المؤمنین حضرت حفصےؓ د ملاقات دپاره. هغوی هم هجرت کړے وو د نجاشی بادشاه حبش په

تجدید عقد د نکاح وو یا به هغه دا ګڼړله چه د لور نکاح بغیر د پلار د مرضئ نه ناجائز دے. خکه چه حضرتﷺ صرف بنه اوفرمائیل نۀ ئے تجدید عقد اوکړو نۀ ئے ابوسفیان ته دا اوفرمائیل چه تجدید عقد ضروری دے انتهی مختصراً

زوج النبي صلى الله عليه وسلم زائرة وقد كانت هاجرت الى النجاشي فيمن هاجر اليه فدخل عمر على حفصة وأسماء عندها فقال عمر حين رأى أسماء من هذه قالت أسماء بنت عميس قال عمر الحبشية هذه البحرية هذه فقالت أسماء نعم فقال عمر سبقناكم بالهجرة فنحن أحق برسول الله صلى الله عليه وسلم منكم فغضبت وقالت كلمة كذبت يا عمر كلا والله كنتم مع رسول الله صلى الله عليه وسلم يطعم جائعكم ويعظ جاهلكم وكنا في دار أو في أرض البعداء البغضاء في الحبشة وذلك في الله وفي رسوله وايم الله لا أطعم طعاما ولا أشرب شرابا حتى أذكر ما قلت لرسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن كنا نؤذى ونخاف وسأذكر ذلك لرسول الله صلى الله عليه وسلم وأسأله و والله لا أكذب ولا أزيغ ولا أزيد على ذلك قال فلما جاء النبي صلى الله عليه وسلم قالت يا نبي الله إن عمر قال كذا وكذا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ليس بأحق بي منكم وله ولأصحابه هجرة واحدة ولكم أنتم أهل السفينة هجرتان قالت فلقد رأيت أبا موسى وأصحاب السفينة يأتوني أرسالا يسألوني

طرف او په ملګرو کښې حضرت عمرؓ د حفصےؓ خواله لاړو هلته اسماء موجوده وه. حضرت عمرؓ چه هر کله اسماءؓ اولیده نو تپوس ئے اوکړو دا څوك ده؟ هغې اووے اسماء بنت عمیس حضرت عمرؓ اووے حبش والا دریاب والا دغه ښځه ده. اسماءؓ اووے آو. حضرت عمرؓ اووے مونږ ستاسو نه مخکښې هجرت کړے دے نو مونږ زیات حق لرو ستاسو نه د رسول اللهﷺ په طرف. ددے په اوریدو اسماء غصه شوه اواوئے وئیل اے عمره! دا تا غلطه اووے.هیڅکله نه. په الله قسم دے ته د رسول اللهﷺ سره وے ستاسو اوږو ته به ئے نصیحت کولو مونږ د یو بل نه لرے په دشمن ملك کښې وو (یعنی د کافرو په ملك کښې ولے چه سوا د نجاشی نه هلته بل څوك مسلمان نه وو او هغه هم د خپل قوم نه په پته مسلمان شوے وو) صرف د الله دپاره او د هغهٔ د رسولؐ دپاره او قسم په خدائے چه زهٔ نهٔ غله خورم او نهٔ اوبهٔ څښم تر هغې پورے چه تا څهٔ وئیلی دی د هغې ذکر مے رسول اللهﷺ ته کړے نهٔ وی او مونږ ته به په حبشو کښې د تکلیف رسیدو یره هم وه. زهٔ به د هغې عرض حضرتﷺ ته کوم او د حضرتﷺ نه به تپوس کوم. په الله قسم دے چه زهٔ دروغ نهٔ وایم نهٔ بے لارے خم نهٔ زیاتے وایم. هرکله چه رسول اللهﷺ تشریف راوړو نو اسماءؓ عرض اوکړو اے د الله نبی! عمر داسے داسے وائی. حضرتﷺ اوفرمائیل هغه زیات حق نهٔ لری ستاسو نه. د هغوی او د هغوی د ملګرو یو هجرت دے (د مکے نه مدینے ته) او ستاسو تولو کشتئ والاؤ دوه هجرتونه دی (یو د مکے نه حبشو ته او بل د حبشو نه مدینے ته) اسماءؓ وائی چه ما ابوموسیٰؓ او کشتئ والا

عَنْ هذا الْحَدِيثِ مَا مِنَ الدُّنْيَا شَيْءٌ هُمْ بِهِ أَفْرَحُ وَلَا أَعْظَمُ فِي أَنْفُسِهِمْ مِمَّا قَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُو بُرْدَةَ فَقَالَتْ أَسْمَاءُ فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَبَا مُوسَى وَإِنَّهُ لَيَسْتَعِيدُ هَذَا الْحَدِيثَ مِنِّي

اوليدل چه هغه به ټولګي ټولګي خماخواله راتلل او دا حديث به ئے اوريدو. او ددنيا يو څيز هغوی ته دومره د خوشحالئ نه وو نه دومره لوئے وو د رسول الله ﷺ ددے فرمانيلو نه زيات ابوبرده وائي چه اسماء وئيلي دي چه ما ابوموسیٰ اوليدو هغهٔ به خما سره تکرارولو دے حديث لره (د خوشحالئ دپاره)

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ سَلْمَانَ وَبِلَالٍ وَصُهَيْبٍ

باب : د حضرت سلمان فارسی او بلال او صهيب رضی الله عنهم فضيلت

عَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ أَتَى عَلَى سَلْمَانَ وَصُهَيْبٍ وَبِلَالٍ فِي نَفَرٍ فَقَالُوا وَاللهِ مَا أَخَذَتْ سُيُوفُ اللهِ مِنْ عُنُقِ عَدُوِّ اللهِ مَأْخَذَهَا قَالَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَتَقُولُونَ هَذَا لِشَيْخِ قُرَيْشٍ وَسَيِّدِهِمْ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ لَعَلَّكَ أَغْضَبْتَهُمْ لَئِنْ كُنْتَ أَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ أَغْضَبْتَ رَبَّكَ فَأَتَاهُمْ أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ يَا إِخْوَتَاهُ أَغْضَبْتُكُمْ قَالُوا لَا يَغْفِرُ اللهُ لَكَ يَا أُخَيَّ

د عائذ بن عمرو نه روايت دے چه ابوسفيان د سلمان او صهيب او بلال خواله راغے نور هم څهٔ خلق ناست وو. هغوی اووے. د الله تورے د الله د دشمن څټ ته په خپله موقع او نهٔ رسيدے (يعنی دا د الله دشمن او نهٔ وژلے شو. ابوبکر اووے تاسو د قريشو د بوډا او سردار په حق کښې داسے وايئ؛ (د ابوبکر د اصلاح په وجه داسے اووے چه څرته ابوسفيان خفه نهٔ شي او د اسلام قبلولو نه او نهٔ ګرځي) او ابوبکر د رسول الله ﷺ خواله راغے او هغوی ته ئے بيان اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل اے ابوبکر! تا کيدے شي هغوی خفه کړي وی (يعنی صهيب او سلمان او بلال کچرے تا هغوی خفه کړي وی نو تا خپل پروردګار خفه کړو. ددے په اوريدو ابوبکر د هغه کسانو خواله راغے او ورته ئے اووئيل اے رونړو! ما تاسو خفه کړي يئ. هغوی اووے نه الله د تا اوبخښي اے زمونږ روره[1]

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ الْأَنْصَارِ

باب : د انصارو فضيلت

---

[1] نووی وائی دا د هغه وخت ذکر دے هر کله چه ابوسفيان کافر وو او د صلح کولو دپاره مسلمانانو ته راغلے وو او په دے کښې فضيلت دے د سلمان او د هغوی د ملګرو او حکم دے د کمزورو او د اهل دين د خاطر دارئ او د زړه ساتلو

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ فِينَا نَزَلَتْ إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا وَاللهُ وَلِيُّهُمَا بَنُو سَلِمَةَ وَبَنُو حَارِثَةَ وَمَا نُحِبُّ أَنَّهَا لَمْ تَنْزِلْ لِقَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَاللهُ وَلِيُّهُمَا

د جابر بن عبد الله رض نه روایت دے وائی چه دا آیت "هر کله چه اراده اوکړه هغه دوو ډلو ستاسونه د بُذدلۍ او الله مددګار دے د دے دواړو" زمونږ خلقو په باب کښې نازل شوے دے په بنی سلمه او بنی حارث کښې. او مونږ نۀ غواړو چه دا آیت نه وے نازل شوے. ځکه چه الله تعالی فرمائی الله مالك دے د هغوی دواړو[1].

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَلِأَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ وَأَبْنَاءِ أَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ

د زید بن ارقم رض نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. یا الله اوبخښې انصارو لره او د انصارو ځامنو او نمسو لره.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د شعبه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَغْفَرَ لِلْأَنْصَارِ قَالَ وَأَحْسِبُهُ قَالَ وَلِذَرَارِيِّ الْأَنْصَارِ وَلِمَوَالِي الْأَنْصَارِ لَا أَشُكُّ فِيهِ

د انس رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دُعا اوکړه د انصارو د بخښنے دپاره او د انصارو د اولاد او د غلامانو دپاره.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى صِبْيَانًا وَنِسَاءً مُقْبِلِينَ مِنْ عُرْسٍ فَقَامَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُمْثِلًا فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ اَللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ يَعْنِي الْأَنْصَارَ

د انس رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ماشومانو او ښځو لره د وادۀ نه په راتلو اولیدل نو حضرت ﷺ ئے مخے ته اودریدو او اوئے فرمائیل اے خلقو! تاسو د ټولو خلقو نه زیات ما ته غوره یئ: اے خلقو! تاسو د ټولو خلقو نه زیات ماته غوره یئ: یعنی انصارو ته ئے اوفرمائیل.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ جَاءَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَخَلَا بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّكُمْ

د انس بن مالك رض نه روایت دے وائی چه د انصارو یوه ښځه د رسول الله ﷺ خواله راغله حضرت ﷺ د هغے سره خانله شو (کیدے شی چه هغه محرمه وه لکه أم سلیم یا ام حرام وه یا د خانله کیدو نه دا مراد دے چه هغے د خلقو نه جدا د څۀ خبرے د حضرت ﷺ نه تپوس اوکړو)

---

[1] نو په دے جمله سره داسے خوشحالی ده چه د روستو لفظ په نازلیدو سره څۀ غم پاتے نۀ شو. بنو سلمه د خزرج نه او بنو حارثه د اوس نه وه. او دا دواړه د انصارو قبیلے دی. کوم وخت چه حضرت ﷺ د بدر دپاره راااووتو نو عبد الله بن أبي منافق د خان سره درے حصے دلارے نه واپس کړل او د دے دواړو قبیلو هم د هغه سره ملګرتیا غوښتله بیا الله تعالی هغوی بچ کړل

لَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ

او اونے فرمائیل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه خما روح دے چه تاسو د ټولو خلقو نه زیات خما خوښ یئ. درے ځله ئے داسے اوفرمائیل.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د شعبه نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْأَنْصَارَ كَرِشِي وَعَيْبَتِي وَإِنَّ النَّاسَ سَيَكْثُرُونَ وَيَقِلُّونَ فَاقْبَلُوا مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَاعْفُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل انصار خما ګُلمے او صُندقونه دی ، د کپړو ایخودلو یعنی خما خاص معتمد او اعتباری خلق دی، او خلق به سوا کیږی او انصار به کمیږی نو قبلوه د هغوی نیکئ لره او معاف کوه د هغوی بدو لره.

عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ بَنُو النَّجَّارِ ثُمَّ بَنُو عَبْدِ الْأَشْهَلِ ثُمَّ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ ثُمَّ بَنُو سَاعِدَةَ وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ فَقَالَ سَعْدٌ مَا أَرَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا قَدْ فَضَّلَ عَلَيْنَا فَقِيلَ قَدْ فَضَّلَكُمْ عَلَى كَثِيرٍ

د ابوأسید رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د انصارو په ټولو کورونو کښې د بنی نجار کور غوره دے (چه هغوی حضرت ﷺ لره په خپلو کورونو کښې کوز کړو او د هر چا نه مخکښې ئے د حضرت ﷺ سره مینه اوکړه) بیا د بنی عبد اشهل. بیا د بنی حارث بن خزرج بیا د بنو ساعده او په هر یو کور د انصارو کښې بهتری ده. سعد بن عباده اووے رسول الله ﷺ په مونږ باندے نورو لره فضیلت ورکړو (ولے چه سعد د بنی ساعدۀ نه وو) خلقو اووے تاسو له ئے فضیلت درکړے دے په ډیرو باندے.

عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ

ابوأسید انصاری رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه هم داسے روایت کړے دے.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَذْكُرُ فِي الْحَدِيثِ قَوْلَ سَعْدٍ

انس رضی الله عنه د نبی ﷺ نه هم دغسے روایت کړے دے مګر په دے حدیث کښې راوی د سعد رضی الله عنه قول ذکر کړے نۀ دے.

عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ دَارُ بَنِي النَّجَّارِ وَدَارُ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ وَدَارُ بَنِي الْحَارِثِ بْنِ

د ابوأسید رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د انصارو په ټولو کورونو کښې د بنی نجار کور غوره دے. او د بنی عبد اشهل. او د بنی حارث بن خزرج او د بنی ساعده. په الله قسم

الْخَزْرَجِ وَدَارُ بَنِي سَاعِدَةَ وَاللَّهِ لَوْ كُنْتُ مُؤْثِرًا بِهَا أَحَدًا لَآثَرْتُ بِهَا عَشِيرَتِي

عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ يَشْهَدُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ بَنُو النَّجَّارِ ثُمَّ بَنُو عَبْدِ الْأَشْهَلِ ثُمَّ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ ثُمَّ بَنُو سَاعِدَةَ وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ قَالَ أَبُو أُسَيْدٍ أَتُّهَمُ أَنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتُ كَاذِبًا لَبَدَأْتُ بِقَوْمِي بَنِي سَاعِدَةَ وَبَلَغَ ذَلِكَ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ فَوَجَدَ فِي نَفْسِهِ وَقَالَ خُلِّفْنَا فَكُنَّا آخِرَ الْأَرْبَعِ أَسْرِجُوا لِي حِمَارِي آتِي رَسُولَ اللَّهِ ﷺ وَكَلَّمَهُ ابْنُ أَخِيهِ سَهْلٌ فَقَالَ أَتَذْهَبُ لِتَرُدَّ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ وَرَسُولُ اللَّهِ ﷺ أَعْلَمُ أَوَلَيْسَ حَسْبُكَ أَنْ تَكُونَ رَابِعَ أَرْبَعٍ فَرَجَعَ وَقَالَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ وَأَمَرَ بِحِمَارِهِ فَحُلَّ عَنْهُ

عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ خَيْرُ الْأَنْصَارِ أَوْ خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ فِي ذِكْرِ الدُّورِ وَلَمْ يَذْكُرْ قِصَّةَ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَهُوَ فِي مَجْلِسٍ عَظِيمٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ أُحَدِّثُكُمْ بِخَيْرِ دُورِ الْأَنْصَارِ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ

دے کچرے زۀ په انصارو باندے چا لره اختیاروم نو خپل خاندان والا به اختیاروم. (او هیڅوک د هغوی نه غوره نشته دے)

د ابو أسید انصاریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل بهتر کور په انصارو کښ د بنی نجار دے بیا د بنی عبد اشهل بیا د بن حارث بن خزرج با د بنی ساعده او د انصارو په هر یو کور کښ بهتری ده ابوسلمه وائی ابوأسید اووے ولے زۀ تهمت وایم په رسول الله ﷺ باندے. کچرے زۀ دروغجن وے نو مخکښ به مے د خپل قوم بنی ساعده نوم اخستے وو. دا خبر سعد بن عبادهؓ ته اورسیدو هغه خفه شو او اوئے وئیل مونږ د څلورو نه په آخر کښ راغلو. خما په خر باندے زین کیږدئ زۀ د رسول الله ﷺ خواله ورځم. د سهل وراره هغوی ته اووے تۀ ورځے د رسول الله ﷺ د یو خبرے د رد کولو دپاره. حالانکه حضرت ﷺ ښه پوهه دے. ولے تا لره دا پوره نۀ ده چه په څلورو کښ د څلورم واپس شو او اوئے وئیل الله او د هغۀ رسول ښه پوهه دی. او حکم ئے اوکړو د خر نه د زین کوزولو دپاره.

د ابوأسید انصاریؓ نه روایت دے هغوی رسول الله ﷺ لره دا فرمائیل اوریدلی دی چه په انصارو کښ د ټولو نه ښۀ یا د انصارو په کورونو کښ ښۀ (مخکښ د پورتنی حدیثونو پشان. او په دے کښ د سعد بن عبادهؓ د قصے ذکر نشته.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د مسلمانانو په یو لوئے محفل کښ ناست وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ تاسو ته د انصارو یوه بهتره کورنۍ اوښائم خلقو عرض اوکړو آو یا

رَسُوْلَ اللهِ ﷺ بنو عَبْدِ الْأَشْهَلِ قَالُوا ثُمَّ مَنْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ثُمَّ بَنُو النَّجَّارِ قَالُوا ثُمَّ مَنْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ثُمَّ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ قَالُوا ثُمَّ مَنْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ثُمَّ بَنُو سَاعِدَةَ قَالُوا ثُمَّ مَنْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ثُمَّ فِي كُلِّ دُوْرِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ مُغْضَبًا فَقَالَ أَنَحْنُ آخِرُ الْأَرْبَعِ حِيْنَ سَمَّى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ دَارَهُمْ فَأَرَادَ كَلَامَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ لَهُ رِجَالٌ مِنْ قَوْمِهِ اجْلِسْ أَلَا تَرْضَى أَنْ سَمَّى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ دَارَكُمْ فِي الْأَرْبَعِ الدُّوْرِ الَّتِي سَمَّى فَمَنْ تَرَكَ فَلَمْ يُسَمِّ أَكْثَرُ مِمَّنْ سَمَّى فَانْتَهَى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ عَنْ كَلَامِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل بنو عبد اشهل دی خلقو اووے بیا کومه کورنئ ده؟ حضرت اوفرمائیل بنی نجار خلقو اووے بیا څوک؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل بنی حارث بن خزرج خلقو اووے بیا څوک؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل بنی ساعده خلقو اووے بیا څوک یا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل د انصارو په هر یو کور کښې بهتري ده. ددے په اوریدو سعد بن عبادهؓ په غصه سره پاڅیدو او اوئے وئیل ولے مونږ د څلورو په آخر کښې یو. هر کله چه هغوی د حضرت ﷺ فرمائیل واوریدو نو د حضرت ﷺ په خبره ئے اعتراض کول غوښتل. دهغهٔ د قوم خلقو هغهٔ ته اووے کینه. ته په دے خبره راضی نهٔ ئے چه رسول الله ﷺ ستا کورنئ په هغه څلورو کښې وګرځوله کوم چه ئے بیان کړو او کومو کورونو لره چه ئے بیان نهٔ کړو هغه ډیر زیات دی. نو سعد بن عباده چُپ پاتے شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ فِي سَفَرٍ فَكَانَ يَخْدُمُنِي فَقُلْتُ لَهُ لَا تَفْعَلْ فَقَالَ إِنِّي قَدْ رَأَيْتُ الْأَنْصَارَ تَصْنَعُ بِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ شَيْئًا آلَيْتُ أَنْ لَا أَصْحَبَ أَحَدًا مِنْهُمْ إِلَّا خَدَمْتُهُ زَادَ ابْنُ الْمُثَنَّى وَابْنُ بَشَّارٍ فِي حَدِيْثِهِمَا وَكَانَ جَرِيْرٌ أَكْبَرَ مِنْ أَنَسٍ وَقَالَ ابْنُ بَشَّارٍ أَسَنَّ مِنْ أَنَسٍ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے وائی چه زهٔ د جریر بن عبدالله بجلی سره اووتم په سفر کښې. هغه به ځما خدمت کولو ما اووے ته ځما خدمت مهٔکوه ولے چه ته ځما نه مشر ئے. هغوی اووے ما انصارو لره د رسول الله ﷺ سره په هغه کار کولو اولیدهٔ چه ما قسم اوخوړو چه زهٔ هر کله د چا انصاری سره یم نو د هغهٔ خدمت به کوم. او جریرؓ د انسؓ نه مشر وو.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ غِفَارَ وَأَسْلَمَ وَجُهَيْنَةَ وَأَشْجَعَ وَمُزَيْنَةَ وَتَمِيْمٍ وَ

باب: د قبیلهٔ غفار، اسلم، جهینه، اشجع، مزینه، تمیم او دَوس او طے رضی الله تعالی

دوس وطیني | عنهم فضیلت

عَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِفَارٌ غَفَرَ اللهُ لَهَا وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ

د ابوذر غفاری رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه غفار لره الله تعالی اوبخښل او اسلم لره ئے بچ او ساتل.

عَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ائْتِ قَوْمَكَ فَقُلْ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ أَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ وَغِفَارٌ غَفَرَ اللهُ لَهَا

د ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دوی ته اوفرمائیل. خپل قوم ته لاړ شه او اووایه چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اسلم د خدائے سلامت ساتی او غفار د خدائے اوبخښی.

عَنْ شُعْبَةَ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ

د شعبه نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ أَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ وَغِفَارٌ غَفَرَ اللهُ لَهَا

د جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. اسلم لره الله بچ کړل او غفار لره الله اوبخښل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ أَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ وَغِفَارٌ غَفَرَ اللهُ لَهَا أَمَا إِنِّي لَمْ أَقُلْهَا وَلٰكِنْ قَالَهَا اللهُ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی اسلم لره الله تعالی سلامت اوساتل او غفار لره الله اوبخښل. دا زۀ نۀ وایم الله فرمائی.

عَنْ خُفَافِ بْنِ إِيْمَاءَ الْغِفَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةٍ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ بَنِي لِحْيَانَ وَرِعْلًا وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ عَصَوُا اللهَ وَرَسُوْلَهُ غِفَارٌ غَفَرَ اللهُ لَهَا وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ

د خفاف بن ایماء غفاری نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په یو مانځۀ کښې دُعا اوکړه چه یا الله لعنت اوکړه په بنی لحیان او رعل او ذکوان او عصیه لره چه دوی نافرمانی کوی د الله تعالی او د هغۀ د رسول ﷺ او اوبخښلو الله تعالی غفار لره او بچ ئے کړو اسلم لره.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِفَارٌ غَفَرَ اللهُ لَهَا وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللهُ وَعُصَيَّةُ عَصَتِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی غفار د الله اوبخښی او اسلم د سلامت اوساتی. او عصیه نافرمانی اوکړه د الله او د هغۀ د رسول.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَفِي حَدِيْثِ صَالِحٍ وَأُسَامَةَ أَنَّ رَسُوْلَ

د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل د پورتنی حدیث پشان او صالح او أسامه (راویانو) وئیلی دی چه رسول الله ﷺ په منبر

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذٰلِكَ عَلَى الْمِنْبَرِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مِثْلَ حَدِيثِ هٰؤُلَاءِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَنْصَارُ وَمُزَيْنَةُ وَجُهَيْنَةُ وَغِفَارُ وَأَشْجَعُ وَمَنْ كَانَ مِنْ بَنِي عَبْدِ اللهِ مَوَالِيَّ دُونَ النَّاسِ وَاللهُ وَرَسُولُهُ مَوْلَاهُمْ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشٌ وَالْأَنْصَارُ وَمُزَيْنَةُ وَجُهَيْنَةُ وَأَسْلَمُ وَغِفَارُ وَأَشْجَعُ مَوَالِيَّ لَيْسَ لَهُمْ مَوْلًى دُونَ اللهِ وَرَسُولِهِ

عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّ فِي الْحَدِيثِ قَالَ سَعْدٌ فِي بَعْضِ هٰذَا فِيمَا أَعْلَمُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ أَسْلَمُ وَغِفَارُ [illegible] وَمَنْ كَانَ مِنْ جُهَيْنَةَ أَوْ جُهَيْنَةُ خَيْرٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ وَبَنِي عَامِرٍ وَالْحَلِيفَيْنِ أَسَدٍ وَغَطَفَانَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَغِفَارُ وَأَسْلَمُ وَمُزَيْنَةُ وَمَنْ كَانَ مِنْ جُهَيْنَةَ أَوْ قَالَ

باندے اوفرمائیل.

ابن عمرؓ نه روایت دے چه اوریدلی دی ما د رسول اللهﷺ نه چه حضرتؐ اوفرمائیل (مخکښں حدیث) هغسے حدیث دے څنگه چه پورتنو راویانو د ابن عمرؓ نه روایت کړے دے.

د حضرت ایوبؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه انصار او مزینه او جُهینه او غفار او اشجع او کوم چه د عبد الله اولاد دے خما دوستان دی. سوا د نورو خلقو نه او الله او د الله رسولؐ د هغوی دوست او حمایتی دے[1].

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه قریش او انصار او مزینه او جهینه او اسلم او غفار او اشجع دوستان دی او د هغوی حمایتی هیڅوک نشته سوا د الله نه او د هغهٔ د رسولؐ نه.

د سعد بن ابراهیم نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے مگر په دے حدیث کښں دی چه سعد وئیلی دی چه د هغوی د بعضو په باره کښں چه زهٔ ئے پیژنم.

د ابوهریرهؓ نه روایت دےچه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی اسلم او غفار او مزینه او جهینه بهتر دی د بنی تمیم نه او بنی عامر نه او اسد او غطفان نه

د ابوهریرهؓ نه روایت دےوائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښں چه د محمد روح دے چه خامخا غفار او اسلم او مزینه او

[1] دا شپږ نومونه د عربو د قومونو دی دی په رښتونی مومنان او د رسول اللهﷺ په رښتونی عاشقان وو. د عبد الله د اولاد نه عبد العزی مراد دے چه د غطفان یو شاخ دے حضرتﷺ د هغوی نوم بنی عبد الله کیښودو عربو هغوی ته محوله وئیلو ولے چه د پلار نوم ئے بدل شو (نووی)

جُهَيْنَةُ وَمَنْ كَانَ مِنْ مُزَيْنَةَ خَيْرٌ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ أَسَدٍ وَطَيِّئٍ وَغَطَفَانَ

جهینه غوره دی د الله په نز د قیامت په ورځ د اسد او طئ او غطفان نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَسْلَمُ وَغِفَارُ وَشَيْءٌ مِنْ مُزَيْنَةَ وَجُهَيْنَةَ أَوْ شَيْءٌ مِنْ جُهَيْنَةَ وَمُزَيْنَةَ خَيْرٌ عِنْدَ اللهِ قَالَ أَحْسِبُهُ قَالَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ أَسَدٍ وَغَطَفَانَ وَهَوَازِنَ وَتَمِيمٍ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل. اسلم او غفار او څۀ مزینه او جهینه یا اوئے فرمائیل څۀ جهینه او مزینه د الله تعالی په نز بهتر دی د قیامت په ورځ د أسد، غطفان، هوازن او د تمیم نه.

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ الْأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّمَا بَايَعَكَ سُرَّاقُ الْحَجِيجِ مِنْ أَسْلَمَ وَغِفَارَ وَمُزَيْنَةَ وَأَحْسِبُ جُهَيْنَةَ مُحَمَّدٌ الَّذِي شَكَّ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ أَسْلَمُ وَغِفَارُ وَمُزَيْنَةُ وَأَحْسِبُ جُهَيْنَةُ خَيْرًا مِنْ بَنِي تَمِيمٍ وَبَنِي عَامِرٍ وَأَسَدٍ وَغَطَفَانَ أَخَابُوا وَخَسِرُوا فَقَالَ نَعَمْ قَالَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُمْ لَأَخْيَرُ مِنْهُمْ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ ابْنِ أَبِي شَيْبَةَ مُحَمَّدٌ الَّذِي شَكَّ

د ابوبکرهؓ نه روایت دے چه اقرع بن حابس د رسول اللهﷺ خواله راغے او اوئے وئیل ستاسو سره بیعت کړے دے د حاجیانو لوټ کونکو د اسلم او غفار او د مزینه او جهینه خلقو. حضرتﷺ اوفرمائیل کچرے د اسلم او مزینه او جهینه د بنی تمیم او بنی عامر او اسد او غطفان نه غوره وی نو دا خلق (یعنی بنی تمیم وغیره) په نیمه کښې پاتے شو او نامراده شو. هغۀ اووے آو. حضرتﷺ اوفرمائیل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه خما روح دے. هغه (یعنی اسلم او غفار وغیره) ډیر غوره دی د هغوی نه (یعنی د بنی تمیم وغیره نه)

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ الضَّبِّيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ وَجُهَيْنَةُ وَلَمْ يَقُلْ أَحْسِبُ

د محمد بن عبد الله بن ابی یعقوب الضبیؒ نه دغسے حدیث په دے اسناد سره روایت دے. په دے کښې دی او جهینه او دا ئے اونۀ وئیل چه خما خیال دے.

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ أَسْلَمُ وَغِفَارُ وَمُزَيْنَةُ وَجُهَيْنَةُ خَيْرٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ وَمِنْ بَنِي عَامِرٍ وَالْحَلِيفَيْنِ بَنِي أَسَدٍ وَغَطَفَانَ

د ابوبکرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی اسلم او غفار او مزینه او جهینه بهتر دی د بنی تمیم نه او بنی عامر او بنی اسد او غطفان نه چه د یو بل حلیف دی.

عَنْ أَبِي بِشْرٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ

د ابوبشر نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كَانَ جُهَيْنَةُ وَأَسْلَمُ وَغِفَارُ خَيْرًا مِنْ بَنِي تَمِيمٍ وَبَنِي عَبْدِ اللهِ بْنِ غَطَفَانَ وَعَامِرِ بْنِ صَعْصَعَةَ وَمَدَّ بِهَا صَوْتَهُ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ فَقَدْ خَابُوا وَخَسِرُوا قَالَ فَإِنَّهُمْ خَيْرٌ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي كُرَيْبٍ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كَانَ جُهَيْنَةُ وَمُزَيْنَةُ وَأَسْلَمُ وَغِفَارُ

د ابوبکرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمانیلی دی ایا نه وینئ تاسو کچرے جهینه او اسلم او غفار غوره وی د بنی تمیم نه او بنی عبد الله بن غطفان نه او عامر بن صعصعه نه او په اوچت آواز سره ئے اوفرمائیل. خلقو عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ په دے صورت کښې بنی تمیم وغیره مات شو او نقصان ئے اوموندو. حضرتﷺ اوفرمائیل پس دوی هم بهتر دی. د ابوکریب په روایت کښې د مزینه لفظ زیات دے.

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ أَتَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقَالَ لِي إِنَّ أَوَّلَ صَدَقَةٍ بَيَّضَتْ وَجْهَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوُجُوهَ أَصْحَابِهِ صَدَقَةُ طَيِّئٍ جِئْتَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عدی بن حاتم نه روایت دے وائی چه زهٔ د حضرت عمرؓ خواله راغلم. هغوی اووے د ټولو نه رومبئ صدقه چه هغې اوپرقول د رسول اللهﷺ او د حضرتﷺ د صحابؤ مخونو لره (یعنی خوشحاله ئے کړل هغوی لره) د طئ صدقه وه (طئ یوه قبیله وه) چه راسے وړه له هغه رسول اللهﷺ ته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَدِمَ الطُّفَيْلُ وَأَصْحَابُهُ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ دَوْسًا قَدْ كَفَرَتْ وَأَبَتْ فَادْعُ اللهَ عَلَيْهَا فَقِيلَ هَلَكَتْ دَوْسٌ فَقَالَ اللَّهُمَّ اهْدِ دَوْسًا وَائْتِ بِهِمْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه طفیل او د هغوی ملګری راغلل او اوئے وئیل چه یا رسول اللهﷺ دوس کفر اختیار کړو او انکار ئے اوکړو د مسلمانیدو نه نو خیرے اوکړئ د دوس د پاره. پس اووئیلے شو تباه شو د دوس خلق. حضرت اوفرمائیل یا الله دوس ته هدایت اوکړه. او هغوی خما خواله راوله

عَنْ أَبِي زُرْعَةَ قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ لَا أَزَالُ أُحِبُّ بَنِي تَمِيمٍ مِنْ ثَلَاثٍ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ هُمْ أَشَدُّ أُمَّتِي عَلَى الدَّجَّالِ قَالَ وَجَاءَتْ صَدَقَاتُهُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ

د ابوزُرعه نه روایت دے وائی چه ابوهریرهؓ وائی زهٔ همیشه د بنی تمیم سره د درے خبرو په وجه محبت ساتم چه هغه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی ما د حضرتﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی وو هغوی (یعنی بنی تمیم) زیات سخت دی خما په امت کښې په دجال باندے او د هغوی صدقے راغلے نو حضرتﷺ اوفرمائیل دا

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذِهِ صَدَقَاتُ قَوْمِنَا قَالَ وَكَانَتْ سَبِيَّةٌ مِنْهُمْ عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَعْتِقِيهَا فَإِنَّهَا مِنْ وَلَدِ إِسْمٰعِيلَ

خما د قوم صدقے دی. او یوه ښځه په هغوی کښې د حضرت عائشے سره قید وه. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا آزاده کړه دا د حضرت اسماعیل د اولاد نه ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَا أَزَالُ أُحِبُّ بَنِي تَمِيمٍ بَعْدَ ثَلَاثٍ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُهَا فِيهِمْ فَذَكَرَ مِثْلَهُ

د ابوهریره نه روایت دے چه زۀ به د بنی تمیم سره برابر محبت کوم د کوم وخت نه چه ما ددوی په باره کښې درے خبرے د رسول الله ﷺ نه واوریدے. بیا د پورتنی حدیث پشان هغه خبرے بیان کړے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ ثَلَاثُ خِصَالٍ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَنِي تَمِيمٍ لَا أَزَالُ أُحِبُّهُمْ بَعْدُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِهٰذَا الْمَعْنَى غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ هُمْ أَشَدُّ النَّاسِ قِتَالًا فِي الْمَلَاحِمِ وَلَمْ يَذْكُرِ الدَّجَّالَ

د ابوهریره نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه د بنی تمیم درے صفتونه د کله نه اوریدلی دی د هغه وخت نه زۀ ددوی سره محبت کوم. مخکښې د پورتنی حدیث پشان هغه بیان کړل. مګر په دے کښې دی چه د بنی تمیم خلق په جنګونو کښې د ټولو خلقو نه زیات جنګیدونکی دی او د دجال ذکر پکښې نشته

بَابُ خِيَارِ النَّاسِ

باب : غوره خلق څوك دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَجِدُونَ النَّاسَ مَعَادِنَ فَخِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوا وَتَجِدُونَ مِنْ خَيْرِ النَّاسِ فِي هٰذَا الْأَمْرِ أَكْرَهَهُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ فِيهِ وَتَجِدُونَ مِنْ شِرَارِ النَّاسِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَهٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ

د ابوهریره نه روایت دے فرمائیلی دی رسول الله ﷺ چه خلق د کانونو په شان دی (مختلف) نو بهتر په خلقو کښې د اسلام په حالت کښې هم هغه دی کوم چه د جاهلیت په حالت کښې غوره وو هر کله چه په دین باندے پوهه شی. یا به تۀ بهتر هغه لره اوموے چه هغه به د مسلمانیدو نه مخکښې د اسلام نه ډیر نفرت کولو (یعنی څوك چه په کفر کښې مضبوط وو هغه د اسلام راوړو نه پس په اسلام کښې هم دغه شان مضبوط شو. لکه حضرت عمر او خالد بن ولید وغیره. یا مراد دادے چه څوك د خلافت نه نفرت لری د هغۀ خلافت به مزیدار وی) او تۀ به د ټولو نه بد هغه چا لره اوموے چه هغه دوه مخونه لری (یعنی دوه ژبے وی) چه د دوی سره په یوه خُله

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ تَجِدُونَ النَّاسَ مَعَادِنَ بِمِثْلِ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ أَبِي زُرْعَةَ وَالْأَعْرَجِ تَجِدُونَ مِنْ خَيْرِ النَّاسِ فِي هَذَا الشَّأْنِ أَشَدَّهُمْ لَهُ كَرَاهِيَةً حَتَّى يَقَعَ فِيهِ

خبرے اوکړی او د هغوی سره په بله څله خبرو کولو ته لاړ شی[1]
د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل خلق د کانونو پشان دی څنګه چه د زهری په حدیث کښں دی. مګر د ابی زرعه او د اعرج په حدیث کښں دی په خلقو کښں بهتر هغه دے په اسلام کښں چه د اسلام راوړلو نه مخکښں دد ے سره زیات نفرت ساتنه.

بَابُ مِنْ فَضَائِلِ نِسَاءِ قُرَيْشٍ

باب: د قریشو د ښځو فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ الْإِبِلَ قَالَ أَحَدُهُمَا صَالِحُ نِسَاءِ قُرَيْشٍ وَ قَالَ الْآخَرُ نِسَاءُ قُرَيْشٍ أَحْنَاهُ عَلَى يَتِيمٍ فِي صِغَرِهِ وَأَرْعَاهُ عَلَى زَوْجٍ فِي ذَاتِ يَدِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی غوره په هغه ښځو کښں چه په اوښانو باندے سورے شوے د قریشو نیك بختے ښځے دی. د ټولو نه زیاتے په بچو باندے مهربانه دی. هر کله چه هغه وارۀ وی. او د خپل خاوند د مال ډیرے ساتونکی دی[2]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَابْنُ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَرْعَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ وَلَمْ يَقُلْ يَتِيمٍ

ابوهریرهؓ د رسول الله ﷺ نه حدیث روایت کوی او ابن طاؤس د خپل پلار نه او هغه ئے د رسول الله ﷺ نه د پورتنی پشان روایت کوی مګر په دے کښں دی په بچی ډیره مهربانه وی. او په دے کښں د یتیم لفظ نشته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ نِسَاءُ قُرَيْشٍ خَيْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ الْإِبِلَ أَحْنَاهُ عَلَى طِفْلٍ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه حضرت ﷺ اوفرمائیل د قریشو ښځے په اوښ باندے په سوریدونکو ښځو کښں د ټولو نه بهتره دی. هغه په بچی ډیرے

---

[1] یعنی رکابی مذهب او خوشامند باز داسے سړے د هیڅ کار نه دے څوك هم په هغه باندے بهروسه نه کوی

[2] د حضرت ﷺ هغه وخت اوفرمائیل هر کله چه هغوی د ام هانی سره د نکاح کولو اراده اوکړه. هغوی اووے چه خما بچی وارۀ وارۀ دی زۀ نۀ غوارم چه ستاسو په بستره باندے هغوی اوژاړی او چغے اووهی او زۀ بوډۍ شوے هم یم په اوښ باندے د سورلۍ کونکو ښځو نه د عربو ښځے مراد دی معلومه شوه چه ښځه کښں هم دوه لوئے صفتونه شته. یو په اولاد باندے مهربانه کیدل دویم د خاوند د مال حفاظت کول

وَأَرْعَاهُ عَلَى زَوْجٍ فِي ذَاتِ يَدِهِ قَالَ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ عَلَى إِثْرِ ذَلِكَ وَلَمْ تَرْكَبْ مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ بَعِيرًا قَطُّ

زیاتے مهربانه د خاوند د مال او د عزت ډیرے حفاظت کونکے وی راوی وئیلی دی چه ابوهریرهؓ به ددے په آخر دا هم وئیل چه مریم بنت عمران چرته هم په اوښ ناسته نه وه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَطَبَ أُمَّ هَانِئٍ بِنْتَ أَبِي طَالِبٍ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي قَدْ كَبِرْتُ وَلِي عِيَالٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ خَيْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَحْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دےچه رسول اللهﷺ أم هانیؓ د ابوطالب لورته د نکاح پیغام ورکړو (یعنی د حضرت علیؓ خور ته) هغوی اووے یا رسول اللهﷺ! زهٔ بوډئ شوے یم او خما بچی هم دی. پس رسول اللهﷺ دا حدیث اوفرمائیهٔ چه غوره ښځے د آخره پورے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ الْإِبِلَ صَالِحُ نِسَاءِ قُرَيْشٍ أَحْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ وَأَرْعَاهُ عَلَى زَوْجٍ فِي ذَاتِ يَدِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ اوفرمائیل په اوښ باندے سوریدونکو بهترینو ښځو کښې د قریشو نیکے ښځے دی. هغه په اولاد باندے په وړوکوتوالی کښې زیاتے مهربانه او د خاوند د څیزونو زیاتے حفاظت کونکے دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَعْمَرٍ هَذَا سَوَاءً

ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ نه د معمر د حدیث پشان روایت کړو.

بَابُ مُؤَاخَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَصْحَابِهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

باب: د رسول اللهﷺ په صحابوؓ کښې یو بل لره د رور جوړولو بیان

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخَى بَيْنَ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ وَبَيْنَ أَبِي طَلْحَةَ

د انسؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ بهائی چاره اوکړه د ابوعبیده بن الجراح او ابوطلحهؓ په مینځ کښې.

عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ قَالَ قِيلَ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ بَلَغَكَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ فَقَالَ أَنَسٌ قَدْ حَالَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د عاصم احول نه روایت دے وائی چه د انس بن مالکؓ نه تپوس اوکړے شو چه آیا تا د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه هغوی فرمائیلی دی چه په اسلام کښې حلف نشته. انس اووے رسول اللهﷺ په خپله حلف اخستے وو د قریشو او انصارو نه په کور خپل

وَسَلَّمَ بَيْنَ قُرَيْشٍ وَالْأَنْصَارِ فِي دَارِهِ

کښې[1]

عَنْ أَنَسٍ قَالَ حَالَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ قُرَيْشٍ وَالْأَنْصَارِ فِي دَارِهِ الَّتِي بِالْمَدِينَةِ

د انس نه روايت دے وئي رسول الله ﷺ حلف اوكړو د قريشو او انصارو په مينځ كښې خما په كور كښې چه په مدينه كښې وو

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ وَأَيُّمَا حِلْفٍ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ لَمْ يَزِدْهُ الْإِسْلَامُ إِلَّا شِدَّةً

د جبير بن مطعم نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د كفر د زمانے د قسم په اسلام كښې څۀ اعتبار نشته او كوم قسم چه ئے د جاهليت په زمانه كښې د نيكے خبرے دپاره كړے وي هغه په اسلام سره نور هم مضبوط شو

بَابُ بَيَانِ أَنَّ بَقَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَانٌ لِأَصْحَابِهِ وَبَقَاءُ أَصْحَابِهِ أَمَانٌ لِلْأُمَّةِ

باب: د رسول الله ﷺ د ذات نه صحابؤ ته امن وو او د صحابؤ د ذات امت ته امن وو

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ صَلَّيْنَا الْمَغْرِبَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قُلْنَا لَوْ جَلَسْنَا حَتَّى نُصَلِّيَ مَعَهُ الْعِشَاءَ قَالَ فَجَلَسْنَا فَخَرَجَ عَلَيْنَا فَقَالَ مَا زِلْتُمْ هَاهُنَا قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّيْنَا مَعَكَ الْمَغْرِبَ ثُمَّ قُلْنَا نَجْلِسُ حَتَّى نُصَلِّيَ مَعَكَ الْعِشَاءَ قَالَ أَحْسَنْتُمْ أَوْ أَصَبْتُمْ قَالَ فَرَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ وَكَانَ كَثِيرًا مِمَّا يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ النُّجُومُ أَمَنَةٌ لِلسَّمَاءِ

د ابوموسىٰ نه روايت دے وائي چه مونږ د ماښام مونځ د رسول الله ﷺ سره اوكړو. بيا مونږه اووے كچرے مونږه د حضرت ﷺ سره دلته پاتے شو او د ماسختن مونځ د حضرت سره ادا كړو نو غوره به وي. بيا مونږ پاتے شو او حضرت بهرته تشريف راوړو. حضرت اوفرمائيل تاسو دلته پاتے يئ: مونږ عرض اوكړو جي آو يا رسول الله مونږ تاسو سره د ماښام مونځ اوكړو بيا مونږ اووے كچرے مونږ دلته پاتے شو تردے پورے چه د ماسختن مونځ هم ستاسو سره اوكړو نو غوره به وي حضرت ﷺ اوفرمائيل تاسو ډير ښه اوكړو او صحيح مو اوكړل بيا حضرت خپل سر د آسمان په طرف پورته كړو. او اكثر به

[1] مخكښې به حلف په دے شان وو چه د قسم خوړلو سره به د يو بل رونړه شو بيا به يو د بل وارث وو. دا طريقه په قران سره منسوخ شوه په قران كښې نازل شو چه وارث به صرف خاندان والاوي. بيا هم هغه حلف چه د يو بل د مدد او محبت او د دين د تقويت دپاره وي د اوسه پورے باقي دے منسوخ شوے نۀ دے (نووي)

فَإِذَا ذَهَبَتِ النُّجُومُ أَتَى السَّمَاءَ مَا تُوعَدُ وَأَنَا أَمَنَةٌ لِأَصْحَابِي فَإِذَا ذَهَبْتُ أَتَى أَصْحَابِي مَا يُوعَدُونَ وَأَصْحَابِي أَمَنَةٌ لِأُمَّتِي فَإِذَا ذَهَبَ أَصْحَابِي أَتَى أُمَّتِي مَا يُوعَدُونَ

حضرت خپل سر د آسمان په طرف کولو بیائے اوفرمائیل ستوری د آسمان بچاؤ دے هر کله چه ستوری د ختم شی نو د آسمان سره هم چه د کومې خبرے وعده ده هغه به راشی. (یعنی قیامت به راشی او آسمان به اوچوی خراب به شی) او زهٔ بچاؤ یم د خپلو صحابو هرکله چه زهٔ لاړ شم نو خما په صحابو باندے به هم هغه وخت راشی د کومې چه وعده ده (یعنی فتنه اوفساد اوجنگونه) او خما صحابه خما د امت بچاؤ دے. هرکله چه صحابه لاړ شی نو خما په امت باندےبه هم هغه وخت راشی د کومې چه وعده ده[1].

بَابُ فَضْلِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ

باب: د صحابؤ، تابعینو، او د تبع تابعینو رحمهم الله فضیلت

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيُقَالُ لَهُمْ فِيكُمْ مَنْ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ يَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيُقَالُ لَهُمْ فِيكُمْ مَنْ رَأَى مَنْ صَحِبَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ يَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيُقَالُ لَهُمْ هَلْ فِيكُمْ مَنْ رَأَى مَنْ صَحِبَ مَنْ صَحِبَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابوسعید خدری ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل په خلقو باندے به یوه داسے زمانه راشی چه د خلقو یو ډله به جهاد کوی نو د هغوی نه به تپوس اوشی چه په تاسو کښې داسے سړے شته چه هغه رسول الله ﷺ لیدلے وی؟ نو خلق به اووائی چه آو. نو د هغوی فتح به اوشی. بیا به جهاد کوی د خلقو یو جماعت نو د هغوی نه به تپوس اوشی چه په تاسو کښې داسے څوک شته؟ چه هغه د رسول الله ﷺ یو صحابی لیدلے وی. یعنی په تابعینو کښې څوک شته؟ خلق به اووائی چه آو. بیا به د هغوی فتح اوشی. بیا به د خلقو یو جماعت جهاد کوی نو د هغوی نه به تپوس اوشی چه په تاسو کښې څوک داسے شته چه هغه د صحابی ملګری لیدلے وی. یعنی د

[1] نووی وائی د صحابؤ په تلو سره بدعتونه پیدا شو. په دے کښې نوے خبرے رااووتے. فتنے به وی د شیطان ښکر به راښکاره شی. د نصراؤ غلبه به وی د مدینے او مکے بے حرمتی به کیږی. دا ټولے خبرے واقع شوے. او دا حدیث د حضرت ﷺ معجزه ده.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يُبْعَثُ مِنْهُمُ الْبَعْثُ فَيَقُولُونَ انْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ فِيكُمْ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُوجَدُ الرَّجُلُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ بِهِ ثُمَّ يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّانِي فَيَقُولُونَ هَلْ فِيهِمْ مَنْ رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُفْتَحُ لَهُمْ بِهِ ثُمَّ يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّالِثُ فَيُقَالُ انْظُرُوا هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ مَنْ رَأَى مَنْ رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَكُونُ الْبَعْثُ الرَّابِعُ فَيُقَالُ انْظُرُوا هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ أَحَدًا رَأَى مَنْ رَأَى أَحَدًا رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ ﷺ فَيُوجَدُ الرَّجُلُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ بِهِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ أُمَّتِي الْقَرْنُ الَّذِينَ يَلُونِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ يَجِيءُ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِينَهُ وَيَمِينُهُ شَهَادَتَهُ لَمْ يَذْكُرْ هَنَّادٌ الْقَرْنَ فِي حَدِيثِهِ وَقَالَ قُتَيْبَةُ ثُمَّ يَجِيءُ أَقْوَامٌ

تبع تابعينو ته خلق به اوواني آو نو د هغوی فتح به اوشی[1]

د ابوسعيد خدری رض نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی په خلقو به يوه زمانه راشی چه په هغے کښې به لښکرے ليږلے کيږی نو خلق به وائی اوګورئ په تاسو کښې د رسول الله ﷺ صحابی شته ؟ نو هغه به اوموندے شی. بيا به هغوی فتح اوکړی. بيا به دويم لښکر ليږلے کيږی. بيا به خلق وائی آيا په دوئ کښې څوك داسے سړے شته چه هغۀ د نبی ﷺ صحابه ليدلے وی؟ بيا به هغوی ته فتح نصيب شی. بيا به دريم لښکر اوليږلے شی بيا به اووئيلے شی آيا په دوی کښې داسے سړی شته چه هغۀ داسے سړے ليدلے وی چا چه د نبی ﷺ صحابه ليدلے وی. بيا به څلورم لښکر اوليږلے شی او اوبه وئيلے شی اوګورئ په دوی کښې داسے سړے شته چه هغۀ داسے سړے ليدلے وی چا چه داسے سړے ليدلے وی چه هغۀ د نبی ﷺ صحابه ليدلے وی. هغه سړے به ميلاؤ شی. بيا به د هغۀ په وجه فتح اوشی.

د عبد الله بن مسعود رض نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی غوره خما په امت کښې خما زمانے ته نږدے خلق دی (يعنی صحابه رض) بيا څوك چه هغوی ته نږدے دی (يعنی تابعين) بيا کوم چه هغوی ته نږدے دی (يعنی تبع تابعين) بيا ددے دريؤ نه پس به هغه خلق راځی چه د هغوی ګواهی د قسم نه مخکښې وی او قسم به ئے د ګواهئ نه مخکښې وی[2].

[1] ددے حديث نه لوئے فضيلت د صحابو رض او تابعينو رح او تبع تابعينو رح ثابت شو چه د هغوی په برکت سره به فتح نصيب کيږی. تحفة الاخيار.

[2] نووی رح وائی صحيح قول چه په هغے باندے جمهور علماء روان دی دادے چه کوم مسلمان رسول الله ﷺ ليدلے وی اګر کۀ يو ساعت

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ قَالَ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ يَجِيْءُ قَوْمٌ تَبْدُرُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِيْنَهُ وَتَبْدُرُ يَمِيْنُهُ شَهَادَتَهُ قَالَ إِبْرَاهِيْمُ كَانُوْا يَنْهَوْنَنَا وَنَحْنُ غِلْمَانٌ عَنِ الْعَهْدِ وَالشَّهَادَاتِ

د عبد الله بن مسعود ؓ نه روايت دے وائي چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړے شو چه کوم خلق غوره دی حضرت ﷺ اوفرمائيل خما د قرن بيا هغه چه هغوی ته نژدے دی بيا هغه چه هغوی ته نژدے دی بيا به هغه خلق راشی چه هغوی به په قسم د ګواهئ نه مخکښ جلتی کوی او ګواهی به ئے د قسم نه مخکښ جلتی کوی. ابراهيم وائی مونږ بچی وو هغه وخت به خلقو مونږ منع کولو د ګواهئ او د قسم يو ځائے کولو نه

عَنْ مَنْصُوْرٍ بِإِسْنَادِ أَبِي الْأَحْوَصِ وَجَرِيْرٍ بِمَعْنَى حَدِيْثِهِمَا وَلَيْسَ فِي حَدِيْثِهِمَا سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

د منصور نه روايت دے د ابوالاحوص او د جرير په اسناد سره د پورتنی پشان او په دے کښں دا نشته چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ فَلَا أَدْرِي فِي الثَّالِثَةِ أَوْ فِي الرَّابِعَةِ قَالَ ثُمَّ يَتَخَلَّفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِيْنَهُ وَيَمِيْنُهُ شَهَادَتَهُ

د عبدالله بن مسعود ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی غوره خلق خما د قرن دی بيا کوم چه هغوی ته نژدے دی بيا کوم چه هغوی ته نژدے دی. پس ما ته نۀ ده معلومه چه حضرت ﷺ په دريم خل کښں اوفرمائيل يا په څلورم خل کښں. بيا به هغه خلق نالائق پيدا شی چه د هغوی ګواهی به د قسم نه مخکښں وی او قسم به ئے د ګواهئ نه مخکښں وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

د ابوهريره ؓ نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی غوره

يو په بل باندے په دے صورت کښں د صحابی فضيلت په انبياؤ باندے نۀ راځی او نۀ د ښځو فضيلت په حضرت مريم ؑ او آسيه ؓ باندے قاضی ؒ وائی د قرن نه څۀ مراد دے. په دے کښں اختلاف دے. مغيره وائی د حضرت ﷺ قرن د هغوی صحابه دی. او د هغوی نه روستو قرن د هغوی خامن دی او شهير ونيلی دی چه د حضرت ﷺ قرن د هغے پورے د کومے پورے چه د حضرت ﷺ ليدلو والا ژوندی وی بيا دويم قرن د هغے پورے دے چه د صحابی ؓ څوك ليدلو والا باقی پاتے وی. بيا دريم قرن د هغے پورے دے چه د تابعی څوك ليدلو والا باقی پاتے دی. او قرن د خنو په نژد د شپيتۀ کاله وی. او د خنو په نژد د سلو کالو وی. غرض دا چه رومبے قرن د صحابو د سلو کالو پورے وو. د ټولو نه آخری صحابی ابوالطفيل دے چه د هغۀ انتقال په ١١٠ھ کښں شوے دے. او د تابعی زمانه په ١٧٠ھ کښں آخری شوه او د تبع تابعينو زمانه د ٢٢٠ھ پورے وه. د دے نه پس ئے اوفرمائيل چه هغه خلق به وی چه د ګواهئ سره به قسم هم خوری ځنے مالکی مذهبو د دے حديث نه دليل نيولے دے چه څوك د ګواهئ سره قسم اوکړی د هغۀ شهادة مردود دے. او مطلب د حديث دا دے چه هغه به جمع کوی حلف او شهادة لره کله به قسم مخکښں خوری او کله به ګواهی مخکښں ورکوی. (نووی مع زيادة)

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ أُمَّتِي الْقَرْنُ الَّذِينَ بُعِثْتُ فِيهِمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ وَاللهُ أَعْلَمُ أَذَكَرَ الثَّالِثَ أَمْ لَا قَالَ ثُمَّ يَخْلُفُ قَوْمٌ يُحِبُّونَ السَّمَانَةَ يَشْهَدُونَ قَبْلَ أَنْ يُسْتَشْهَدُوا

خما په امت کښې هغه قرن دے چه په هغے کښې زۀ رالیږلے شوے یم بیا هغه قرن دے کوم چه ددے نه روستو دے. معلومه نۀ ده چه د دریم هم هغوی ذکر کړے دے یا نۀ بیائے اوفرمائیل هغه خلق به پیدا شی چه هغه به څورب والے خوښوی. ګواهی به ورکوی د ګواهۍ طلب کولو نه مخکښې[1].

عَنْ أَبِي بِشْرٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ شُعْبَةَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَلَا أَدْرِي مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا

د ابو بشر نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے. مګر د شعبه په حدیث کښې دی چه ابوهریرهؓ دوه یا درے ځل دا اوئیل زۀ نۀ پوهیږم.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ خَيْرَكُمْ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ قَالَ عِمْرَانُ فَلَا أَدْرِي أَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ قَرْنِهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً ثُمَّ يَكُونُ بَعْدَهُمْ قَوْمٌ يَشْهَدُونَ وَلَا يُسْتَشْهَدُونَ وَيَخُونُونَ وَلَا يُؤْتَمَنُونَ وَيَنْذِرُونَ وَلَا يُوفُونَ وَيَظْهَرُ فِيهِمُ السِّمَنُ

عمران ابن حصین حدیث بیانوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بهترینه زمانه خما زمانه ده بیا چه کومه دے ته نزدے ده بیا چه کومه هغه ته نزدے ده. بیا چه کومه هغه ته نزدے ده. عمران وائی چه ما ته معلومه نۀ ده چه رسول الله ﷺ د خپلے زمانے نه روستو دوه ځل اوفرمائیل یا درے ځل اوفرمائیل. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د هغے نه پس به هغه خلق پیدا شی چه بے د طلب د ګواهۍ نه به ګواهی ورکوی. غلۀ به وی، امانتداری به نۀ کوی، منختے به کوی خو پوره کوی به ئے نه، په دوی کښې به غټ والے خوریږی.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمْ قَالَ لَا أَدْرِي

د شعبه په دے اسناد سره روایت دے. او په دے حدیث کښې دی

---

[1] نووی ونیلی دی مطلب دادے چه هغه خلق به اکثر څاربۀ وی. او بد والے د هغۀ چا دے چه څربیدل خوښوی نه د هغه چا چه پیدائشی خورب وی او غرض دادے چه د ضرورت نه زیات خوړل څکل کوی ددے دپاره چه څورب شی یا مطلب دادے چه هغه خلق به فریب کوی او دعوه به کوی د هغه اوصافو چه کوم په هغوی کښې نۀ وی. یا به مال جمع کوی. او دا حدیث په ظاهر مخالف دے د هغه حدیث نه چه په هغے کښې فرمائیلی دی چه غوره ګواه هغه دے چه هغه د تپوس نه مخکښې ګواهی ورکړی. او وجه د تطبیق ئے داده چه د ګناه حدیث د هغه شهادت په باب کښې دے چه هغه صاحب حق ته معلوم وی مګر د صاحب حق د درخواست نه ئے مخکښې ورکړی. او د تعریف حدیث د هغه شهادت په باب کښې دے چه د هغے علم صاحب حق ته نۀ وی او د هغۀ حق ډوبیږی پس هغۀ ته بیان کړے د هغۀ د حق بچ کولو دپاره. په دے شان هغه شهادت چه د حقوق الله دپاره وی. مګر په کوم صورت کښې چه ګواهی د حد وی او پټول ئے غوره معلوم شی (انتهی مختصراً)

أَذَكَرَ بَعْدَ قَرْنِهِ قَرْنَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً وَفِي حَدِيثِ شَبَابَةَ قَالَ سَمِعْتُ زَهْدَمَ بْنَ مُضَرِّبٍ وَجَاءَنِي فِي حَاجَةٍ عَلَى فَرَسٍ فَحَدَّثَنِي أَنَّهُ سَمِعَ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ وَفِي حَدِيثِ يَحْيَى وَشَبَابَةَ يَنْذُرُونَ وَلَا يَفُونَ وَفِي حَدِيثِ بَهْزٍ يُوفُونَ كَمَا قَالَ ابْنُ جَعْفَرٍ

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ خَيْرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ الْقَرْنُ الَّذِينَ بُعِثْتُ فِيهِمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ زَادَ فِي حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ قَالَ وَاللهُ أَعْلَمُ أَذَكَرَ الثَّالِثَ أَمْ لَا بِمِثْلِ حَدِيثِ زَهْدَمٍ عَنْ عِمْرَانَ وَزَادَ فِي حَدِيثِ هِشَامٍ عَنْ قَتَادَةَ وَيَحْلِفُونَ وَلَا يُسْتَحْلَفُونَ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلَ رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ قَالَ الْقَرْنُ الَّذِي أَنَا فِيهِ ثُمَّ الثَّانِي ثُمَّ الثَّالِثُ

بَابُ بَيَانِ لَا يَبْقَى عَلَى رَأْسِ مِائَةٍ

چه معلومه نۀ ده چه حضرت ﷺ د خپل قرن نه روستو د دوؤ قرنونو ذکر اوکړو یا د دریؤ. او د شبابه په حدیث کښې دی چه ما د زهدم بن مضرّب نه اوریدلی دی او هغه څما خواله په څۀ کار په آس سور راغلے وو او ما ته ئے حدیث بیان کړو چه هغوی د عمران بن حصین نه اوریدلی دی چه نذر به منی لیکن پوره کوی به ئے نه

عمران بن حصین د نبی ﷺ نه حدیث روایت کوی چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی چه دد ے امت بهترینه زمانه هغه ده چه په هغے کښې زۀ رالیږلے شوے یم بیا هغه زمانه چه په د ے پسے پیوست ده. ابو عوانه (راوی) وئیلی دی الله بنۀ پوهیږی چه حضرت ﷺ د دریمے زمانے ذکر اوکړو یا نه څنګه چه د زهد په حدیث کښې دی. او د هشام په حدیث کښې دی چه هغوی به بغیر د طلب د قسم نه قسم خوری.

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے نه روایت د ے چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه کوم خلق غوره دی حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه قرن په کوم کښې چه زۀ یم بیا دویم بیا دریم[1].

باب : د صدئ د آخره پورے د هیچا د نۀ پاتے

---

[1] دغه درے قرنونو ته قرونِ ثلاثه وائی پس کوم قول یا فعل چه په دین کښې په هغه زمانو کښې نه وو هغه بدعت د ے ولے چه د هغے نه پس بیا د گواهئ او فساد زمانه ده. د روستو خلقو داسے اعتبار نشته چه د هغوی قول یا فعل دِ بغیر د دلیل شرعی نه د اعتبار قابل شی او د فضیلت نه مراد دغه فضیلت مجموعی د ے دپاسه د مجموع. پس دا ضروری نۀ ده چه هرِ یو تابعی دِ د تبع تابعی نه افضل وی یا هر یو تبع تابعی د. د روستو تول خلقو نه افضل وی. د تبع تابعینو نه پس هم په امت محمدی کښې داسے داسے لوئے لوئے عالمان او ولیان تیر شوی دی چه هغوی ته په تبع تابعینو باندے فضیلت د ے. او د حدیث نه دا هم غرض نۀ د ے چه دد ے قرنونه پس به تول خلق بد وی. څکه چه هر یو قرن د امت محمدی د ښو خلقو نه خالی نۀ وی. په بل حدیث کښې دی چه همیشه به یو جماعت څما د امت په حق باندے قائم وی او هغه جماعت د اهل سنت والجماعة او د قرآن د ے د الله تعالی رحمت دِ وی په هغوی باندے. او مونږ دِ په دنیا او آخرت کښې په دغه جماعت کښې شامل اولری. آمین

سَنَةٍ أَحَدٌ مِمَّنْ هُوَ مَوْجُودٌ الْآنَ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ذَاتَ لَيْلَةٍ صَلَاةَ الْعِشَاءِ فِيْ آخِرِ حَيَاتِهِ فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ فَقَالَ أَرَأَيْتَكُمْ لَيْلَتَكُمْ هٰذِهٖ فَإِنَّ عَلٰى رَأْسِ مِائَةِ سَنَةٍ مِنْهَا لَا يَبْقٰى مِمَّنْ هُوَ عَلٰى ظَهْرِ الْأَرْضِ أَحَدٌ قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَوَهَلَ النَّاسُ فِيْ مَقَالَةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ تِلْكَ فِيْمَا يَتَحَدَّثُوْنَ مِنْ هٰذِهِ الْأَحَادِيْثِ عَنْ مِائَةِ سَنَةٍ وَإِنَّمَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَا يَبْقٰى مِمَّنْ هُوَ الْيَوْمَ عَلٰى ظَهْرِ الْأَرْضِ أَحَدٌ يُرِيْدُ بِذٰلِكَ أَنْ يَنْخَرِمَ ذٰلِكَ الْقَرْنُ

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ مَعْمَرٍ كَمِثْلِ حَدِيْثِهٖ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ قَبْلَ أَنْ يَمُوْتَ بِشَهْرٍ تَسْأَلُوْنِيْ عَنِ السَّاعَةِ وَإِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللهِ وَأُقْسِمُ بِاللهِ مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوْسَةٍ تَأْتِيْ عَلَيْهَا مِائَةُ سَنَةٍ

کیدو بیان چه اوس موجود دی

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په خپل اخری عمر کښې یوه شپه د ماسخوتن مونځ زمونږ سره اوکړو. هر کله چه سلام ئے اوګرځوو نو اودریدو او اوئے فرمائیل تاسو خپلے دے شپے ته اوکتل. د اوس نه سل کاله پس به د زمکے په سر په دے اوسیدونکو کښې یو هم باقي پاتے نۀ شي. عبد الله بن عمر ؓ وائي چه خلقو په دے حدیث کښې غلطي کړے ده چه بیانوي سلو کالو لره بلکه حضرت ﷺ دا اوفرمائیل چه نن چه کوم خلق موجود دي په دوی کښې به یو هم پاتے نۀ شي یعني قرن به ختم شي.[1]

د زهري نه د معمر په اسناد سره د پورتني حدیث پشان روایت دے.

د جابر بن عبد الله ؓ نه روایت دے وائي چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چه د وفات نه ئے یوه میاشت مخکښې فرمائیلي وو تاسو خمانه د قیامت په باره کښې تپوس کوئ؛ د قیامت علم خو الله ته دے او زۀ قسم خورم چه د الله تعالی یو روح نۀ دے (یعني په بنیادمو کښې) چه په هغۀ باندے سل کاله ختم شي. (د نن تاریخ نه او هغه ژوندے پاتے وي)

[1] دا مطلب نۀ دے چه سل کاله پس به هیڅوك نۀ وي او قیامت به راشي. دا حدیث صحیح ثابت شو او دغه شان اوشوه. چه د رسول الله ﷺ په صحابو کښې د هغه تاریخ نه سل کاله پس څوك هم پاتے نۀ شو د تولو نه روستے صحابي چه ابوالطفیل وو هغه هم په صحیح قول په سنه ۱۱۰ھ کښې انتقال اوکړو. امام نووي وئیلي دي مراد د زمکے والا نه بنیادم دي نۀ فرښتے هغه خو به پاتے وي. او د دے حدیث نه خنو استدلال کړے دے د خضر په مرګ باندے لیکن جمهور دا وائي چه هغه ژوندے دے. او هغه په دریاب والاؤ کښې دے نۀ په زمکے والاکښې یا خضر علیه السلام د دے نه مستثنی دے. د دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه په هندوستان کښې څو سوه کاله پس چه بابا رتن د صحابي کیدو دعوه کړے وه هغه محض غلطه او دروغ وه. البته په جناتو کښې به د حضرت ﷺ لیدلو والا موجود وي. برادرِ معظم مولوي حاجي بدیع الزمان صاحب مرحوم یو حدیث د شاه سکندر نه روایت کړے دے چه هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي او د شاه ولي الله صاحب نه هم دغه شان منقول دي. (والله اعلم)

عَن ابنِ جُرَيجٍ بِهذَا الإِسنَادِ وَلَم يَذكُر قَبلَ مَوتِهِ بِشَهرٍ

د ابن جريج نه په دے اسناد سره روايت دے او په دے کښې د وفات نه يوه مياشت مخکښې ذکر نشته دے.

عَن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ ذٰلِكَ قَبلَ مَوتِهِ بِشَهرٍ أَو نَحوِ ذٰلِكَ مَا مِن نَفسٍ مَنفُوسَةٍ اليَومَ تَأتِي عَلَيهَا مِائَةُ سَنَةٍ وَهِيَ حَيَّةٌ يَومَئِذٍ وَعَن عَبدِ الرَّحمٰنِ صَاحِبِ السِّقَايَةِ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثلِ ذٰلِكَ وَفَسَّرَهَا عَبدُ الرَّحمٰنِ قَالَ نَقصُ العُمُرِ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د خپل وفات نه يوه مياشت مخکښې يا څۀ دغه شان اوفرمائيل کوم روح چه نن ورځ دے په هغے باندے سل کاله نۀ تيريږی چه هغه به مړ کيږی. عبد الرحمٰن ددے تفسير داسے کړے دے چه عمر کم شو (ورنه د مخکښې خلقو خو د سلو کالو نه هم زيات عمر وو.

عَن سُلَيمَانَ التَّيمِيِّ بِالإِسنَادَينِ جَمِيعًا مِثلَهُ

د سليمان تيمی نه په دواړو اسنادونو سره دغسے روايت دے.

عَن أَبِي سَعِيدٍ قَالَ لَمَّا رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مِن تَبُوكَ سَأَلُوهُ عَنِ السَّاعَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تَأتِي مِائَةُ سَنَةٍ وَعَلَى الأَرضِ نَفسٌ مَنفُوسَةٌ اليَومَ

د ابوسعيد نه روايت دے چه هر کله رسول الله ﷺ د تبوك نه واپس شو نو د قيامت په باره کښې ترے تپوس اوکړے شو. حضرت ﷺ اوفرمائيل د سل کاله تيريدو نه پس به دد ے وخت يو سړے ژوندے پاتے نۀ وی[1]

عَن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللهِ قَالَ قَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَا مِن نَفسٍ مَنفُوسَةٍ تَبلُغُ مِائَةَ سَنَةٍ فَقَالَ سَالِمٌ تَذَاكَرنَا ذٰلِكَ عِندَهُ إِنَّمَا هِيَ كُلُّ نَفسٍ مَخلُوقَةٍ يَومَئِذٍ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه هيڅ يو کس به د سلو کالو پورے ژوندے نۀ وی سالم وائی مونږ ددے ذکر د جابر په مخکښې اوکړو (هغوی اووے) مراد هغه بنده دے کوم چه په دغه ورځ پيدا شوے وو. (ددے حديث بيانولو په وخت)

بَابُ تَحرِيمِ سَبِّ الصَّحَابَةِ

باب: صحابؓو ته بد وئيل حرام دی[2]

[1] بيا ددے وخت چه څومره خلق دی د هغوی قيامت به په سلو کالو کښې دننه دننه راشی ولے چه مرګ هم د مړی په حق کښې قيامت دے اګر کۀ لوئے قيامت نۀ دے. او قيامت کبری به کله راځی ددے علم سوا د الله نه بل هيچا ته نشته

[2] نووی وائی صحابؤ ته بد وئيل سخت حرام دی اګر کۀ هغه صحابه وی چه هغه په جنګ کښې د يو په مقابله کښې شريك وو. ځکه چه هغه مجتهد وو د دغه جنګ په باره کښې او د مجتهد خطا معاف ده او صحابؤ ته بد وئيل کبيره ګناه ده. زمونږ او د جمهور علماؤ دا قول دے چه څوك داسے اوکړی هغه له د سزا ورکړے شی او قتلوی د نے نه او د ځنے مالکيه په نز د قتل کړے شی (انتهی مختصراً)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا أَدْرَكَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل بد مهٔ وایئ خما صحابو ته بَد مهٔ وایئ خما صحابؤ ته قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه خما روح دے کچرے خوك په تاسو کښې د أحد برابر سرهٔ زر خرچ کړی ، د خدائے تعالی په لاره کښې نو د هغوی د مُد (د سیر هومره) یا د نیم مُد برابر نشی کیدے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ كَانَ بَيْنَ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ وَبَيْنَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ شَيْءٌ فَسَبَّهُ خَالِدٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوا أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِي فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَوْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا أَدْرَكَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ

د ابوسعیدؓ نه روایت دے چه د خالد بن ولید او عبدالرحمٰن بن عوف په مینځ کښې یوه جهګړه راغله نو خالد هغوی ته بد اووے رسول اللهﷺ اوفرمائیل کنځل مهٔ کوه خما د صحابو نه هیچا ته خکه چه کچرے خوك ستاسو نه د أحد د غر برابر سرهٔ زر خیرات کړی نو د هغوی د مُد یا د نیم مُد خیرات کولو ثواب ته نهٔ شی رسیدے[1].

عَنِ الْأَعْمَشِ بِإِسْنَادِ جَرِيرٍ وَأَبِي مُعَاوِيَةَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمَا وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ شُعْبَةَ وَوَكِيعٍ ذِكْرُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ وَخَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ

د اعمش نه جریر او د ابومعاویه په اسناد سره د پورتنی دوارو حدیثونو پشان مروی دی او د شعبه او د وکیع په حدیث کښې د عبد الرحمٰن او د خالد بن ولید ذکر نشته

بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ أُوَيْسٍ الْقَرَنِيِّ

باب: د أُویس قرنی فضیلت[2]

عَنْ أُسَيْرِ بْنِ جَابِرٍ أَنَّ أَهْلَ الْكُوفَةِ وَفَدُوا إِلَى عُمَرَ وَفِيهِمْ رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ يَسْخَرُ بِأُوَيْسٍ فَقَالَ عُمَرُ هَلْ هَاهُنَا

د أسیر بن جابرؓ نه روایت دے چه د کوفے خلق د حضرت عمرؓ خواله راغلل په هغوی کښې یو سړے وو چه هغه د اویس سره توقے کولے (خکه چه هغه نهٔ پیژندو چه دا د اولیاء الله نه دے او اویس به خپل حال

---

[1] ولے چه هغوی په داسے وخت باندے صرف کړو هر کله چه زیات ضرورت وو او ددین زیله د هغوی په تائید سره قائمه شوه د هغے احسان د قیامته پورے په هر مسلمان باندے دے. ددے حدیث نه معلومه شوه چه هیڅ یو ولی یا بزرګ یا پیر د ادنی صحابی د مرتبے پورے نهٔ شی رسیدے.

[2] د هغوی نوم اویس بن عامر دے یا اویس بن ماکو یا اویس بن عمرو. کنیت د هغوی ابوعمرو وو د صفین په جنګ کښې وژلے شوے وو او قرنی د قرنِ طرفته منسوب دے بنی قرن د مراد یو شاخ دے او دا د حضرتﷺ په زمانه مبارکه کښې موجود وو او اسلام ئے راوړے وو خو د حضرت د صحبت نه مشرف نهٔ شو خکه په تابعینو کښې د هغوی شمار دے او د هغوی درجه د ټولو تابعینو نه افضله ده

أَحَدٌ مِنَ الْقَرَنِيِّينَ فَجَاءَ ذَلِكَ الرَّجُلُ فَقَالَ عُمَرُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ إِنَّ رَجُلًا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ لَا يَدَعُ بِالْيَمَنِ غَيْرَ أُمٍّ لَهُ قَدْ كَانَ بِهِ بَيَاضٌ فَدَعَا اللهَ فَأَذْهَبَهُ عَنْهُ إِلَّا مَوْضِعَ الدِّينَارِ أَوِ الدِّرْهَمِ فَمَنْ لَقِيَهُ مِنْكُمْ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ

پتوؤ. نووي وائي د عارفانو دغه طريقه ده) حضرت عمرؓ اووے دلته د قرن هم څوك سړے شته دے. هغه سړے راغے. بيا حضرت عمرؓ اووے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه ستاسو خواله به يو سړے د يمن نه راځي د هغهٔ نوم اويس دے او هغه په يمن کښې هيڅا لره نهٔ پرېږدي (د خپلو عزيزانو نه) سوا د خپلے مور نه هغهٔ ته (د برګې) سپين والے راغلے وو. نو هغهٔ د الله نه دُعا اوکړه نو الله هغه لرے کړو. مګر د يو دينار يا د يو درهم برابر پاتے دے. څوك چه ستاسو نه د هغهٔ سره ميلاؤ شي نو د خپل ځان دپاره دُعا اوغواړي د هغوي نه

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ خَيْرَ التَّابِعِينَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ وَلَهُ وَالِدَةٌ وَكَانَ بِهِ بَيَاضٌ فَمُرُوهُ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ

د حضرت عمرؓ نه روايت دے وائي چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو. بهتر په تابعينو کښې يو سړے دے چه هغهٔ ته أويس وئيلے شي د هغهٔ يوه مور ده. او په هغهٔ يو سپين والے دےتهٔ هغوي ته اووايه چه ستاسو دپاره د مغفرت دُعا اوکړي.

عَنْ أُسَيْرِ بْنِ جَابِرٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ إِذَا أَتَى عَلَيْهِ أَمْدَادُ أَهْلِ الْيَمَنِ سَأَلَهُمْ أَفِيكُمْ أُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ حَتَّى أَتَى عَلَى أُوَيْسٍ فَقَالَ أَنْتَ أُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ مِنْ مُرَادٍ ثُمَّ مِنْ قَرَنٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَكَانَ بِكَ بَرَصٌ فَبَرَأْتَ مِنْهُ إِلَّا مَوْضِعَ دِرْهَمٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ لَكَ وَالِدَةٌ قَالَ نَعَمْ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَأْتِي عَلَيْكُمْ أُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ مَعَ أَمْدَادِ أَهْلِ الْيَمَنِ مِنْ مُرَادٍ ثُمَّ مِنْ قَرَنٍ كَانَ

د أُسير بن جابرؓ نه روايت دے چه د حضرت عمرؓ خواله چه به هر کله د يمن نه د مدد خلق راتلو (يعنى هغه خلق چه د هر ملك نه د لښکر د مدد دپاره راځي د جهاد کولو دپاره) نو عمر به د هغوي نه تپوس کولو چه په تاسو کښې أُويس بن عامر هم يو سړے شته دے تر دے پورے چه حضرت عمرؓ پخپله د أُويس خواله راغے او تپوس ئے ترے اوکړو چه ستا نوم أُويس بن عامر دے؟ هغوي اووے آو. حضرت عمرؓ اووے تهٔ د مراد قبيلے نه ئے؟ هغو اووے آو. حضرت عمرؓ تپوس اوکړو د قرن نه ئے. هغوي اووے آو. تپوس ئے ترے اوکړو پتا برګے وو هغه ښه شوے دے مګر دا درهم برابر پاتے دے؟ هغهٔ اووے آو. تپوس ئے ترے اوکړو ستا مور شته دے. هغوي اووے آو. پس حضرت عمرؓ اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو چه ستا خواله به اويس

بِهِ بَرَصٌ فَبَرَأَ مِنْهُ إِلَّا مَوْضِعَ دِرْهَمٍ لَهُ وَالِدَةٌ هُوَ بِهَا بَرٌّ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ فَافْعَلْ فَاسْتَغْفِرْ لِي فَاسْتَغْفَرَ لَهُ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ أَيْنَ تُرِيدُ قَالَ الْكُوفَةَ قَالَ أَلَا أَكْتُبُ لَكَ إِلَى عَامِلِهَا قَالَ أَكُونُ فِي غَبْرَاءِ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيَّ قَالَ فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ حَجَّ رَجُلٌ مِنْ أَشْرَافِهِمْ فَوَافَقَ عُمَرَ فَسَأَلَهُ عَنْ أُوَيْسٍ قَالَ تَرَكْتُهُ رَثَّ الْبَيْتِ قَلِيلَ الْمَتَاعِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَأْتِي عَلَيْكُمْ أُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ مَعَ أَمْدَادِ أَهْلِ الْيَمَنِ مِنْ مُرَادٍ ثُمَّ مِنْ قَرَنٍ كَانَ بِهِ بَرَصٌ فَبَرَأَ مِنْهُ إِلَّا مَوْضِعَ دِرْهَمٍ لَهُ وَالِدَةٌ هُوَ بِهَا بَرٌّ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ فَافْعَلْ فَأَتَى أُوَيْسًا فَقَالَ اسْتَغْفِرْ لِي قَالَ أَنْتَ أَحْدَثُ عَهْدًا بِسَفَرٍ صَالِحٍ فَاسْتَغْفِرْ لِي قَالَ اسْتَغْفِرْ لِي قَالَ أَنْتَ أَحْدَثُ عَهْدًا بِسَفَرٍ صَالِحٍ فَاسْتَغْفِرْ لِي قَالَ لَقِيتَ عُمَرَ قَالَ نَعَمْ فَاسْتَغْفَرَ لَهُ فَفَطِنَ لَهُ النَّاسُ فَانْطَلَقَ عَلَى وَجْهِهِ

بن عامر راخي د یمن والاؤ د امدادي فوج سره هغه د مراد قبیلې دے چه د قرن شاخ دے. په هغهٔ برگې وو هغه بنه شوے دے مگر د درهم برابر باقي دے د هغهٔ یوه مور ده د هغې دا حال دے چه کچرے د الله په اعتماد باندے قسم اوخوري نو الله هغې لره ربښتونے کوي پس کچرے ستا نه کیدے شي دُعا غوښتل د هغهٔ نه نو دُعا اوغواره د خپل خان دپاره نو دُعا اوکره خما دپاره. اویس د حضرت عمرؓ دپاره د بخشش دُعا اوکره. حضرت عمرؓ د هغوی نه تپوس اوکړو تاسو چرته تلل غواړئ؛ هغوی اووے کوفے ته حضرت عمرؓ اووے زهٔ یو خط تاسو ته د کوفے د حاکم په نوم اولیکم؟ هغوی اووے ما ته په خاکسارانو کښې اوسیدل بنه معلومیږي. هر کله چه دویم کال راغے نو یو سړی د کوفے د رئیسانو نه حج اوکړو هغه د حضرت عمرؓ سره میلاؤ شو حضرت عمرؓ د هغهٔ نه د اُویسؓ د حال تپوس اوکړو هغهٔ اووے ما اویس په داسے حال کښې پریخودو چه د هغهٔ په کور کښې اسباب کم وو او هغه ناچاره وو (د خرچې نه) حضرت عمرؓ اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چه فرمائیلي ئې وو اویس بن عامر به ستاسو خواله راخي د یمن د امدادي لښکر سره هغه د مراد نه دے. بیا د قرن نه او هغوی ته برگې وو. هغه بنه شوے دے. صرف د یو درهم برابر باقي پاتې دے. د هغهٔ یوه مور ده چه د هغې سره هغه نیکي کوي. کچرے په الله باندے قسم اوخوري نو الله هغه ربښتیا کړي پس کچرے ستاسو نه کیدے شي چه هغه دُعا اوکړي ستا دپاره نو دُعا اوغواره د هغهٔ نه هغه سړي چه دا واوریدل نو د اویسؓ خواله راغے او اوئې وئیل خما دپاره دُعا اوکره. اویسؓ اووے ته اوس د نیک سفر نه (یعنی حج نه) راغلې ئې نو خما دپاره دُعا اوکره. بیا هغه سړي اووے خما دپاره دُعا اوکره. اویسؓ هم دغه

قَالَ أُسَيْرٌ وَكَسَوْتُهُ بُرْدَةً فَكَانَ كُلَّمَا رَآهُ إِنْسَانٌ قَالَ مِنْ أَيْنَ لِأُوَيْسٍ هٰذِهِ الْبُرْدَةُ

جواب ورکړو. بيائے تپوس اوکړو ته د حضرت عمرؓ سره ميلاؤ شوے؟ هغه سړی اووے آو. ميلاؤ شوم. اويسؓ د هغۀ دپاره دُعا اوکړه. دغه وخت خلقو د اويسؓ درجه اوپيژنده. هغه د هغه ځائے نه نيغ لاړو. اُسير وائی د هغۀ جامے يو څادر وو. هر کله چه به يو بنده هغه اوليدو نو وئيل به ئے اُويس له دا څادر د کوم ځائے نه راغے.

بَابُ وَصِيَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَهْلِ مِصْرَ

باب: د مصر والاؤ دپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم وصيت

عَنْ أَبِي ذَرٍّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ سَتَفْتَحُونَ أَرْضًا يُذْكَرُ فِيهَا الْقِيرَاطُ فَاسْتَوْصُوا بِأَهْلِهَا خَيْرًا فَإِنَّ لَهُمْ ذِمَّةً وَرَحِمًا فَإِذَا رَأَيْتُمْ رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَاخْرُجْ مِنْهَا قَالَ فَمَرَّ بِرَبِيعَةَ وَعَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنَيْ شُرَحْبِيلَ ابْنِ حَسَنَةَ يَتَنَازَعَانِ فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَخَرَجَ مِنْهَا

د ابوذرؓ نه روايت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل. تاسو به فتح کړئ يو ملك لره چه هلته به د قيراط رواج وی (قيراط يوه ټکړه ده د درهم او دينار او په مصر کښې ددے ډير رواج وو) د هغه ځائے د خلقو سره نيکی کوئ ځکه چه د هغوی حق دے پتاسو باندے او خپلولی ئے هم ده ستاسو سره (ځکه چه هاجره د اسماعيلؑ مور صاحبه د مصر وه او هغه مور ده د عربو) هر کله چه تاسو دوه سړی د يوے خښتے په ځائے باندے په جنګ اووينئ نو د هغه ځائے نه تبنتئ. بيا ابوذرؓ اوليدل چه ربيعه او عبد الرّحمٰن بن شرحبيل د يوے خښتے په ځائے باندے جنګيدل نو ابوذرؓ د هغه ځائے نه اووتو

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ سَتَفْتَحُونَ مِصْرَ وَهِيَ أَرْضٌ يُسَمَّى فِيهَا الْقِيرَاطُ فَإِذَا فَتَحْتُمُوهَا فَأَحْسِنُوا إِلَى أَهْلِهَا فَإِنَّ لَهُمْ ذِمَّةً وَرَحِمًا أَوْ قَالَ ذِمَّةً وَصِهْرًا فَإِذَا رَأَيْتَ رَجُلَيْنِ يَخْتَصِمَانِ فِيهَا فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَاخْرُجْ مِنْهَا قَالَ فَرَأَيْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ

د ابوذرؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی. تاسو خلق به عنقريب مصر فتح کړئ او دا هغه زمکه ده چه د هغه ځائے سکے ته قيراط وائی. کله چه تاسو دے لره فتح کړئ نو د هغه ځائے خلقو سره ښۀ سلوك کوئ ځکه د هغوی په تاسو حق دے او د هغوی ستاسو سره رشته هم ده (هغه رشته دا وه چه حضرت ابراهيمؑ د رسول اللهﷺ د خوئ مور ماريهؓ د مصر وه) او هر کله ته دوه سړو لره وينے چه هغوی د يوے خښتے په ځائے برابر جهګړه کوی نو د هغه ځائے نه اوځه ابوذرؓ اوئيل چه

شُرَحْبِيلَ بْنِ حَسَنَةَ وَأَخَاهُ رَبِيعَةَ يَخْتَصِمَانِ فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَخَرَجَتْ مِنْهَا

ما عبدالرحمن او ربیعه دواړو رونړو لره د یوے خښتے په ځائے جهګړه کونکی اولیدل نو زۀ د هغه ځائے نه اووتم.

بَابُ فَضْلِ أَهْلِ عُمَانَ

باب : د عمّان والاؤ فضيلت[1]

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ يَقُولُ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا إِلَى حَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ فَسَبُّوهُ وَضَرَبُوهُ فَجَاءَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ أَهْلَ عُمَانَ أَتَيْتَ مَا سَبُّوكَ وَلَا ضَرَبُوكَ

د ابوبرزهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ یو سړے اولیږلو عربو د یوے قبیلے په طرف هغه خلقو هغۀ ته کنځل اوکړل او اوئے وهو هغه د حضرتﷺ خواله راغے او دا حال ئے ورته بیان کړو. حضرتﷺ اوفرمائیل کچرے تۀ د عمان د خلقو خواله تلے وے نو هغوی به تا ته نۀ کنځل کړی وو او نۀ به ئے وهلے وے (ځکه چه د هغه ځائے خلق ښه دی)

بَابُ ذِكْرِ كَذَّابِ ثَقِيفٍ وَمُبِيرِهَا

باب : د ثقیف د دروغو او د هلاکو بیان[2]

عَنْ أَبِي نَوْفَلٍ رَأَيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ عَلَى عَقَبَةِ الْمَدِينَةِ قَالَ فَجَعَلَتْ قُرَيْشٌ تَمُرُّ عَلَيْهِ وَالنَّاسُ حَتَّى مَرَّ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ فَوَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللهِ لَقَدْ

د ابو نوفل نه روایت دے وائی چه ما عبد الله بن زبیرؓ لره د مدینے په کنډؤ باندے اولیدو (یعنی د مکے هغه ناکه چه د مدینے لاره ده) د قریشو خلق او نور خلق پرے تیریدو (هغوی ته حجاج مردود سولئ ورکړے وه او په دغه ځائے باندے ئے پریخودے وو) تردے پورے چه عبد الله بن عمرؓ هم په هغوی باندے تیر شو. نو هغه هلته اودریدو او اسلام علیك یا ابا خبیب (ابوخبیب کنیت دے د عبد اللهﷺ بن زبیر خبیب د هغوی مشر ځوئ وو او ابوبکر او ابوبکیر هم د هغوی کنیت دے) السلام علیك ابا خُبیب السلام علیك ابا خبیب (ددے نه معلومه شوه چه مری ته درے

---

[1] عمان په بحرین کښې یو ښار دے

[2] ثقیف یوه قبیله ده مشهوره په عربو کښې حضرتﷺ فرمائیلی وو چه په دے کښې به یو دروغجن پیدا کیږی هغه مختار بن ابی عبید ثقفی وو چه هغه د نبوته پورے دعوه کړے وه او معلومه نه ده چه څو څو دروغ ئے جوړ کړی وو. د هر څۀ نه مخکښې دے مختار به کار کړے وو او د ابن زیاد بد نهاد او شمر ابن سعد او د امام حسین د قاتلانو نه ئے بدله اخستے ده په آخر کښې خراب شو او د معصب بن زبیر په مقابله کښې اوژلے شو دویم هلاکو یعنی د خلقو وژلو والا هغه حجاج بن یوسف ثقفی وو دغه مردود هغه ظلمونه کړی دی چه معاذ الله په زرګونو ناحق قتلونه ئے کړی دی د مکے معظمے بے حرمتی ئے کړے ده. او ابن زبیر ئے شهید کړے وو

كُنتُ أَنهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنتُ أَنهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللهِ إِنْ كُنت مَا عَلِمتُ صَوَّامًا قَوَّامًا وَصُولاً لِلرَّحِمِ أَمَا وَاللهِ لَأُمَّةٌ أَنتَ أَشَرُّهَا لَأُمَّةُ خَيرٍ ثُمَّ نَفَذَ عَبدُ اللهِ بنُ عُمَرَ فَبَلَغَ الحَجَّاجَ مَوْقِفُ عَبدِ اللهِ وَقَولُهُ فَأَرسَلَ إِلَيهِ فَأُنزِلَ عَنْ جِذعِهِ فَأُلقِيَ فِي قُبُورِ اليَهُودِ ثُمَّ أَرسَلَ إِلَى أُمِّهِ أَسمَاءَ بِنتِ أَبِي بَكرٍ فَأَبَتْ أَنْ تَأتِيَهُ فَأَعَادَ عَلَيهَا الرَّسُولَ لَتَأتِيَنِّي أَوْ لَأَبعَثَنَّ إِلَيكِ مَنْ يَسحَبُكِ بِقُرُونِكِ قَالَ فَأَبَتْ وَقَالَتْ وَاللهِ لَا آتِيكَ حَتَّى تَبعَثَ إِلَيَّ مَنْ يَسحَبُنِي بِقُرُونِي قَالَ فَقَالَ أَرُونِي سِبْتَيَّ فَأَخَذَ نَعلَيهِ ثُمَّ انطَلَقَ يَتَوَذَّفُ حَتَّى دَخَلَ عَلَيهَا فَقَالَ كَيفَ رَأَيتِنِي صَنَعتُ بِعَدُوِّ اللهِ قَالَتْ رَأَيتُكَ أَفسَدتَ عَلَيهِ دُنيَاهُ وَأَفسَدَ عَلَيكَ آخِرَتَكَ بَلَغَنِي أَنَّكَ تَقُولُ لَهُ يَا ابنَ ذَاتِ النِّطَاقَينِ أَنَا وَاللهِ ذَاتُ النِّطَاقَينِ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكُنتُ أَرفَعُ بِهِ طَعَامَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَطَعَامَ أَبِي بَكرٍ مِنَ الدَّوَابِّ وَأَمَّا الآخَرُ فَنِطَاقُ المَرأَةِ الَّتِي لَا تَستَغنِي

خله سلام كول مستحب دي، قسم په الله ماخو تۀ منع كولے دده نه قسم په الله ما خو تۀ منع كولے دده نه قسم په الله ما خو تۀ منع كولے دده نه (يعنى د حكومت او خلافت اختيارولو نه) په الله قسم دے د كومے پورے چه زۀ خبر يم چه تۀ يو روژه ساتونكے. د شپے عبادت كونكے او د خپلولئ رغبت راوستونكے ئى. په الله قسم دے د كوم بد جماعت نه چه تۀ ئے هغه ډير ښه جماعت دے (دا هغوى برعكس اووے په طريقه د طنز يعنى بد جماعت دے او په يو روايت كښ صفا راغلى دى چه هغه بد تولے دے) دا خبره د عبد الله بن عمر ؓ حجاج ته اورسيده. هغۀ هغوى لره د سورلئ نه راكوز كړو او د يهودو په مقبره كښ ئے اوغورځوو (دغه مردود په دے نۀ پوهيدو چه په دے خۀ كيږى انسان كۀ هر چرته هم اوغورځوئے خو د هغۀ نيك اعمال ښه كيدل ضرور دى) بيائے د ابن زبير په مور اسماء پسے قاصد اوليږو. هغے د حجاج خواله د راتلو نه انكار اوكړو. حجاج ورپسے بيا قاصد اوليږو چه كۀ راځے نو راشه كنى زۀ په درپسے داسے سړے در اوليږم چه د سر د چوټئ نه به دې اونيسي او رابه دې ولي. (الله د پوهه شى د هغه مردود سره چه هغه د ابوبكر ؓ د لور او د حضرت عائشے ؓ د خور داسے بے ادبى اوكړه) هغوى چه بيا هم د راتلو نه انكار اوكړو او اوئے وئيل په الله قسم دے چه زۀ ستا خواله نۀ درځم تر هغے پورے چه تۀ هغه كس راﺍونۀ ليږے چه هغه ما د سر د ويښتو نه نيولى در ولى. آخر حجاج اووے خما پيزار راوړئ او پيزار ئے په خپو كړو او په ګوريدو روان شو تر دے پورے چه د اسماء خواته اورسيدو او اوئے وئيل تا اوليدل په الله قسم دے چه ما څۀ څۀ اوكړل د الله د دشمن سره (دا حجاج د خپل اعتقاد موافق عبد الله بن زبير ؓ ته اووے. ورنه هغه مردود پخپله د الله دشمن وو) اسماء اووے ما اوليدل چه تا د عبد الله بن زبير ؓ

عَنْهُ أَمَا إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنَا أَنَّ فِي ثَقِيفٍ كَذَّابًا وَمُبِيرًا فَأَمَّا الْكَذَّابُ فَرَأَيْنَاهُ وَأَمَّا الْمُبِيرُ فَلَا إِخَالُكَ إِلَّا إِيَّاهُ قَالَ فَقَامَ عَنْهَا وَلَمْ يُرَاجِعْهَا

دنیا ختمه کړه او هغه ستا آخرت ختم کړو. او ما اوریدلی دی چه تا به عبد الله بن زبیر ته وئیل د دوو کمر بندو والاځوی؛ بیشك زۀ دوه کمر بند والایم په یو کمر بند کښې خو به ما د رسول الله ﷺ او د ابوبکر خوراك اوچت کړے وو چه خناورئ او نۀ خوری او بل کمر بند هغه وو کوم چه ښځو له پکار دے (اسماء خپل کمر بند اوشلوؤ دوه ټکړے کړے ئے وو د یو نه ئے کمر ترلے وو. او د بلے ټکړے نه ئے دسترخوان جوړ کړے وو د رسول الله ﷺ او ابوبکر ؓ دپاره دا فضیلت وو د اسماء ؓ چه هغې لرۀ حجاج مردود عیب ګڼړلو او عبد الله بن زبیر ؓ ته ئے د ذلیله کولو دپاره د دوه کمر بند والاځوی؛ وئیل، ته خبردار شه چه موږ ته رسول الله ﷺ بیان کړے وو چه په ثقیف کښې به یو دروغژن پیدا کیږی او یو هلاکو. نو دروغژن خو موږ اولیدو. او هلاکو زۀ نه پیژنم ستا نه علاوه بل چا لره. دد ے په اوریدو حجاج پاڅیدو او اسماء ته ئے څۀ جواب ورنۀ کړو.[1]

بَابُ فَضْلِ فَارِسَ

باب : د فارس والاؤ فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ الدِّيْنُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَذَهَبَ بِهِ رَجُلٌ مِنْ فَارِسَ أَوْ قَالَ مِنْ أَبْنَاءِ فَارِسَ حَتَّى يَتَنَاوَلَهُ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کچرے دین په ثریا باندے وے. (ثریا پیرونو ته وئیلے شی یعنی هغه وارۀ وارۀ ستوری چه د ګنګوچی پشان معلومیږی. هغه د زمکے نه ډیر لرے دی. د هغوی د لرے والی اندازه په براهین هندسه سره هم نۀ شی

[1] ما خو تا لره منع کولو دد ے نه یعنی د خلافت او حکومت اختیارولو نه او جهګړے کولو نه لیکن تا نۀ منل او د هغې نتیجه دا شوه چه اووژلے شوے په سراج الوهاج کښې دی چه دد ے حدیث نه سماع موتی او د هغوی شعور ثابتیږی. ورنه دا خطاب به بیکاره وی. ما نه چه خومره علم دے نو ته روژه ساتونکے د شپے عبادت کونکے او د خپلوانو خپلولئ خوږونکے وے. نووی وائی عبد الله بن زبیر تعریف بیان کړو او د حجاج د ظلم نه ئے یرۀ او نۀ کړه. په دے کښې د عبد الله بن عمر هم منقبت راااوتو. او غرض د عبد الله بن عمر دا وو چه حجاج چه کومے بدئ؛ د عبدا الله بن زبیر مشهور کړی دی هغه غلطے دی. او په خلقو باندے ئے د هغوی فضیلت ظاهر کړو. او د ال حق مذهب دغه دے چه عبد الله بن زبیر مظلوم وو او حجاج او د هغه ملګری ظالمان او باغیان وو. او دد ے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه څنے اهل تاریخ چه کوم دا وائی چه عبد الله بن زبیر بخیل وو دا غلطه ده په کتاب الاجواد کښې ئے عبد الله بن زبیر ته سخی لیکلے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ نَزَلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْجُمُعَةِ فَلَمَّا قَرَأَ وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ قَالَ رَجُلٌ مَنْ هَؤُلَاءِ يَا رَسُولَ اللهِ فَلَمْ يُرَاجِعْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى سَأَلَهُ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا قَالَ وَفِينَا سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ قَالَ فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ ثُمَّ قَالَ لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَنَالَهُ رِجَالٌ مِنْ هَؤُلَاءِ

کیدے، نو دغه د فارس یو سړی به هغه وړے وو یا به نے اخستے وو.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو. چه په دے کښں سورة جمعه نازل شو. هر کله چه حضرت ﷺ دا ایت اولوستو. وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ. یعنی پاك دے هغه ذات د الله چه هغه پیغمبر رااولیږو د عربو په طرف او د نورو په طرف چه لاتراوسه د عربو سره میلاؤ نهٔ دی. یو سړی تپوس اوکړو دغه کوم خلق دی چه د عربو نه علاوه دی یا رسول الله! حضرت ﷺ جواب ورنهٔ کړو تردے پورے چه هغه یو خل یا دوه خله یا درے خکه تپوس اوکړو دغه وخت په مونږ خلقو کښں سلمان فارسیؓ هم ناست وو. حضرت ﷺ خپل لاس مبارك په هغوی باندے کیښودو او اوئے فرمائیل کچرے ایمان په ثریّا باندے وے نو هم به ددوی د قم نه څهٔ خلق هغے ته ته رسیدلے وو.

بَابُ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسُ كَإِبِلٍ مِائَةٍ لَا تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً

باب: د نبی ﷺ فرمان چه د خلقو مثال د اوښانو پشان دے چه په سلو کښں د مزیدارے سورلئ قابل یو هم نوی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجِدُونَ النَّاسَ كَإِبِلٍ مِائَةٍ لَا يَجِدُ الرَّجُلُ فِيهَا رَاحِلَةً

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاسو به بنیادمو لره داسے اوموموئ لکه دداسے اوښانو چه په سلو اوښانو کښں یو هم چالاك او د مزیدارے سورلئ قابل نهٔ میلاویږی (دغه شان ښکلے مهذّب، عاقل، نیك، او نیك بخت، خوش اخلاق. یا صالح پرهیزګار یا موحّد دیندار به په سلو سړو کښں یو هم په نظر نهٔ راځی)

كِتَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْأَدَبِ

د نيكئ او ښهٔ سلوك او ادب مسئلے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبُوكَ وَفِي حَدِيثِ قُتَيْبَةَ مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِي وَلَمْ يَذْكُرِ النَّاسَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه يو سړے د رسول اللهﷺ خواله راغےاو عرض ئے اوكړو يا رسول اللهﷺ په ما باندے د ښهٔ سلوك كولو دپاره د چا حق زيات دے. حضرتﷺ اوفرمائيل. ستا د مور ، هغهٔ اووے بيا څوك؟ حضرتﷺ اوفرمائيل ستا د مور هغهٔ اووے بيا څوك حضرتؐ وفرمائيل ستا د مور هغه وويل بيا څوك حضرتؐ وفرمائيل بيا ستا پلار (حضرت مور مخكښ كړه خكه چه مور د بچي سره ډير محنت كوى نهه مياشتے حمل گرځول بيا زيږول بيا يئ وركول بيا پالنه د بيمارئ په تكليف كښ خبر اخستل حارث مجاسبي وئيلي دي اجماع كړے ده عالمانو چه مور مقدمه ده په پلار باندے په نيك سلوك كولو كښ. او خنو دواړو ته برابر وئيلي دي. او صواب د مور تقديم دے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ الصُّحْبَةِ قَالَ أُمُّكَ ثُمَّ أُمُّكَ ثُمَّ أُمُّكَ ثُمَّ أَبُوكَ ثُمَّ أَدْنَاكَ أَدْنَاكَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه د رسول اللهﷺ نه يو سړي تپوس اوكړو. څوك زيات حقدار دے د نيك سلوك كولو دپاره؟ حضرتﷺ اوفرمائيل مور بيا مور بيا مور بيا پلار بيا چه څوك نږدے نږدے وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ جَرِيرٍ وَزَادَ فَقَالَ نَعَمْ وَأَبِيكَ لَتُنَبَّأَنَّ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه يو سړے د نبيﷺ خواله راغے پس هغهٔ د جرير (راوى) او په دے كښ دا زياته كړه. پس هغهٔ اووے آو قسم دے ستا په پلار، تاسو ته به خبر را اورسى (نووى وئيلي دي" د پلار په قسم سره" قسم خوړل مقصود نهٔ دي. بلكه دا يوه كلمه ده

[1] نوويؒ وئيلي دي په سلوك كولو كښ د حق دارانو ترغيب دادے اول مور بيا پلار بيا اولاد بيا نيكهٔ، د مور پلار، نيا ، بيا رور خور بيا نور محرم لكه ترهٔ ترور ماما ترور او نږدے مقدم دے په لرے باندے او حقيقي مقدم دے په علاتي او اخيافي باندے بيا هغه رشته داران چه هغه محرم نهٔ دي لكه د ترهٔ خوئ او لور د ماما اولاد بيا نكاحي رشتے والا بيا غلام بيا گاونډي (انتهى)

چه د عادتا په ژبه جاري کيږي.

عَنِ ابْنِ شُبْرُمَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فِي حَدِيثِ وُهَيْبٍ مَنْ أَبَرُّ وَفِي حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ طَلْحَةَ أَيُّ النَّاسِ أَحَقُّ مِنِّي بِحُسْنِ الصُّحْبَةِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ جَرِيرٍ

د ابن شبرمه نه په دے اسناد سره روايت دے او د وهيب په حديث کښې دي چه زۀ د چا سره ښۀ اوکړم. او د محمد ابن طلحه په حديث کښې دي کوم سړے خما د خانسته ملګرتيا زيات حقدار دے. مخکښې د جرير د حديث پشان بيان کړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْذِنُهُ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ أَحَيٌّ وَالِدَاكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روايت دے چه يو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے او اجازت ئے غوښتلو د حضرت ﷺ سره جهاد ته د تلو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل ستا پلار مور ژوندی دی. هغۀ اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائيل تۀ خالص په هغوی کښې جهاد کوه[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ يَقُولُ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ قَالَ مُسْلِم أَبُو الْعَبَّاسِ اسْمُهُ السَّائِبُ بْنُ فَرُّوخَ الْمَكِّيُّ

د عبد الله بن عمرو بن العاص ؓ نه روايت دے چه يو سړے د نبی ﷺ خواله راغے. مخکښې د پورتنی حديث پشان بيان کړو. مسلم وائی د ابو العباس نوم سائب بن فروخ مکی دے. هغۀ د حبيب نه په دے اسناد سره دغسے روايت کړے دے.

عَنْ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ أَقْبَلَ رَجُلٌ إِلَى نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ أَبْتَغِي الْأَجْرَ مِنَ اللهِ قَالَ فَهَلْ مِنْ وَالِدَيْكَ أَحَدٌ حَيٌّ قَالَ نَعَمْ بَلْ كِلَاهُمَا قَالَ فَتَبْتَغِي الْأَجْرَ مِنَ اللهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَارْجِعْ إِلَى وَالِدَيْكَ فَأَحْسِنْ صُحْبَتَهُمَا

د عبد الله بن عمرو بن العاص ؓ نه روايت دے چه يو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه زۀ ستا نه بيعت کوم په هجرت او جهاد باندے د الله نه د هغے ثواب غواړمه. حضرت ﷺ اوفرمائيل ستا په پلار مور کښې کوم يو ژوندے دے. هغۀ اووے دواړه ژوندی دی. حضرت ﷺ اوفرمائيل د الله نه ثواب غواړے. هغۀ اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائيل واپس لاړ شه د خپل پلار او مور خواله او د هغوی سره نيک سلوک کوه.

---

[1] حضرت ﷺ اوفرمائيل تۀ په هغوی کښې جهاد کوه يعنی د هغوی خدمت کوه. نووی ؒ وائی د دے حديث نه د پلار مور د خدمت لوئے فضيلت وتلے دے. او دا هم معلومه شوه چه دغه خدمت په جهاد باندے مقدم دے. علماء وائی دا حکم په داسے حالت کښې دے هر کله چه پلار او مور مسلمانان وی. او کچرے کافر وی نو د جهاد دپاره د هغوی نه اجازت دغه وخت غوښتل ضروری نۀ دی.

بَابُ تَقْدِيمِ بِرِّ الْوَالِدَيْنِ عَلَى التَّطَوُّعِ بِالصَّلَوةِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ كَانَ جُرَيْجٌ يَتَعَبَّدُ فِي صَوْمَعَةٍ فَجَاءَتْ أُمُّهُ قَالَ حُمَيْدٌ فَوَصَفَ لَنَا أَبُو رَافِعٍ صِفَةَ أَبِي هُرَيْرَةَ لِصِفَةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّهُ حِينَ دَعَتْهُ كَيْفَ جَعَلَتْ كَفَّهَا فَوْقَ حَاجِبِهَا ثُمَّ رَفَعَتْ رَأْسَهَا إِلَيْهِ تَدْعُوهُ فَقَالَتْ يَا جُرَيْجُ أَنَا أُمُّكَ كَلِّمْنِي فَصَادَفَتْهُ يُصَلِّي فَقَالَ اللّٰهُمَّ أُمِّي وَصَلَاتِي فَاخْتَارَ صَلَاتَهُ فَرَجَعَتْ ثُمَّ عَادَتْ فِي الثَّانِيَةِ فَقَالَتْ يَا جُرَيْجُ أَنَا أُمُّكَ فَكَلِّمْنِي قَالَ اللّٰهُمَّ أُمِّي وَصَلَاتِي فَاخْتَارَ صَلَاتَهُ فَقَالَتْ اَللّٰهُمَّ إِنَّ هٰذَا جُرَيْجٌ وَهُوَ ابْنِي وَإِنِّي كَلَّمْتُهُ فَأَبَى أَنْ يُكَلِّمَنِي اللّٰهُمَّ فَلَا تُمِتْهُ حَتّٰى تُرِيَهُ الْمُومِسَاتِ قَالَ وَلَوْ دَعَتْ عَلَيْهِ أَنْ يُفْتَنَ لَفُتِنَ قَالَ وَكَانَ رَاعِي ضَأْنٍ يَأْوِي إِلَى دَيْرِهِ قَالَ فَخَرَجَتْ امْرَأَةٌ مِنَ الْقَرْيَةِ فَوَقَعَ عَلَيْهَا الرَّاعِي فَحَمَلَتْ فَوَلَدَتْ غُلَامًا فَقِيلَ لَهَا مَا هٰذَا قَالَتْ مِنْ صَاحِبِ هٰذَا الدَّيْرِ قَالَ فَجَاءُوا بِفُؤُوسِهِمْ

باب : په نفل مونځ باندے د مور او پلار تابعداری مُقدمه ده

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه جریج (دا په بنی اسرائیلو کښ یو عابد وو) عبادت بنی کولو په عبادت خانه کښ چه په دے کښ د هغهٔ مور راغله حمید وائی ما ته ابورافع بیان کړے دے هغوی ته ابوهریرهؓ ،ابوهریرهؓ ته رسول اللهﷺ بیان کړے دے چه د هغهٔ مور خپل لاس په ورځو کیښودو او سر ئے اوچت کړو جریج ته د آواز کولو دپاره. نو اوئے وئیل اے جریجه زهٔ ستا مور یم څما سره خبرے اوکړه. جریج هغه وخت په مانځهٔ کښ وو هغهٔ اووے (په زړهٔ کښ) یا الله څما مور آواز اوکړو او زهٔ په مانځهٔ کښ یم او بیا هغه خپل مونځ کولو. د هغهٔ مور واپس لاړه په دویم ځل بیا راغله او اوئے وئیل اے جریجه زهٔ ستا مور یم څما سره خبرے اوکړه. هغهٔ اووے اے ربه څما مور چغے وهی او زهٔ په مانځهٔ کښ یم. آخر هغه مونځ کولو. هغے اووے یا الله دا جریج دے او څما خوئ دے. ما ددهٔ سره خبره کوله لیکن دهٔ د خبرے کولو نه انکار اوکړو یا الله مهٔ وژنه دهٔ لره تر څو پورے چه ئے بد کارے ښځے لیدلے نهٔ وی. حضرتﷺ اوفرمائیل کچرے هغے دُعا کوله چه جریج دِ په یوه فتنه کښ اخته شی نو خامخا به اخته شوے وو (خو هغے بس دومره قدرے دُعا اوکړه چه بدکارے ښځے دِ اووینی) د ګډو یو څرونکی د جریج د عبادت خانے په خوا کښ دمه کوله نو د کلی نه یوه ښځه بهر رااووته او د هغه شپونکی سره میلاو شوه. د هغے ګیډه شوه او یو هلك ئے اوزیږه وو. خلقو د هغے نه تپوس اوکړو دا هلك دِ د چرته نه راوړو. هغے اووے په دے عبادت خانه کښ چه کوم اوسیږی ددهٔ هلك دے. ددے خبرے په اوریدو (د کلی خلقو) خپلے کودالئ او بیلچئ

وَمَسَاجِيهِمْ فَنَادَوْهُ فَصَادَفُوهُ يُصَلِّي فَلَمْ يُكَلِّمْهُمْ قَالَ فَأَخَذُوا يَهْدِمُونَ دَيْرَهُ فَلَمَّا رَأَى ذٰلِكَ نَزَلَ إِلَيْهِمْ فَقَالُوا لَهُ سَلْ هٰذِهِ قَالَ فَتَبَسَّمَ ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَ الصَّبِيِّ فَقَالَ مَنْ أَبُوكَ قَالَ أَبِي رَاعِي الضَّأْنِ فَلَمَّا سَمِعُوا ذٰلِكَ مِنْهُ قَالُوا نَبْنِي مَا هَدَمْنَا مِنْ دَيْرِكَ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ قَالَ لَا وَلٰكِنْ أَعِيدُوهُ تُرَابًا كَمَا كَانَ ثُمَّ عَلَاهُ

راواخستے راغلل او جریج ته ئے آواز اوکړو هغه په مانځه ولاړ وو خبرے ئے او نه کړے. خلقو د هغهٔ عبادت خانه راغورځول شروع کړل هر کله چه هغه دا اولیدل نو راکوز شو خلقو هغهٔ ته اووے دد ے ښځے نه تپوس اوکړه څه وانی جریج اوخندل او د هغے د ماشوم په سَر باندے ئے لاس راښکو او تپوس ئے ترے اوکړو چه ستا پلار څوك دے؟ هغهٔ اووے خما پلار د ګډو شپونکے دے. هر کله چه خلقو د بچی نه دا خبره واوریده نو اوئے وئیل څومره عبادت خانه چه مونږه ستا غورځولے ده هغه به مونږ په سرو زرو او سپینو زرو سره جوړه وو. جریج اووے نه هم په دغه خاوره سره ئے جوړه کړئ لکه چه څنګه مخکښ وه. او بیا خپلے عبادت خانے ته پورته اوختو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِي الْمَهْدِ إِلَّا ثَلَاثَةٌ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَصَاحِبُ جُرَيْجٍ وَكَانَ جُرَيْجٌ رَجُلًا عَابِدًا فَاتَّخَذَ صَوْمَعَةً فَكَانَ فِيهَا فَأَتَتْهُ أُمُّهُ وَهُوَ يُصَلِّي فَقَالَتْ يَا جُرَيْجُ فَقَالَ يَا رَبِّ أُمِّي وَصَلَاتِي فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ فَانْصَرَفَتْ فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَتْهُ وَهُوَ يُصَلِّي فَقَالَتْ يَا جُرَيْجُ فَقَالَ يَا رَبِّ أُمِّي وَصَلَاتِي فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ فَانْصَرَفَتْ فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَتْهُ وَهُوَ يُصَلِّي فَقَالَتْ يَا جُرَيْجُ فَقَالَ أَيْ رَبِّ أُمِّي وَصَلَاتِي فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ فَقَالَتِ اللّٰهُمَّ لَا تُمِتْهُ حَتَّى يَنْظُرَ إِلَى وُجُوهِ الْمُومِسَاتِ فَتَذَاكَرَ بَنُو

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هیڅ یو ماشوم په زانګو کښ خبرے نهٔ دی کړے مګر دریو هلکانو. یو عیسیٰ ابن مریم علیه السلام دویم د جریج ملګرے. او د جریج قصه داسے وه. چه هغه یا عابد سړے وو. او هغه یوه عبادت خانه جوړه کړے وه په هغے کښ به اوسیدلو. د هغهٔ مور راغله او هغهٔ مونځ کولو. مور ورته آواز اوکړو چه یا جریجه! هغهٔ اووے اے خما ربه خما مور ما ته آواز اوکړو او زهٔ په مانځهٔ ولاړ یم. آخر هغهٔ هغه مونځ کولو او مور ئے واپس لاړه. په دویمه ورځ بیا راغله او آواز ئے اوکړو جریج بیا اووے یا الله خما مور ما ته آواز کوی او زهٔ په مانځهٔ ولاړ یم. آخر هغه خپل مونځ کولو د هغهٔ مور اووے یا الله دهٔ لره تر هغے مهٔ وژنه چه تر څو ئے د بدکارو ښځو مخ نهٔ وی لیدلے. پس بنی اسرائیلو د جریج او د هغهٔ د عبادت چرچا شروع کړه. او په بنی اسرائیلو کښ یوه بدکاره ښځه وه. چه په حسن سره ئے مثال ورکولو. هغے اووے چه تهٔ وائی نو زهٔ به

إِسْرَائِيلَ جُرَيْجًا وَعِبَادَتَهُ وَكَانَتِ امْرَأَةٌ بَغِيٌّ يُتَمَثَّلُ بِحُسْنِهَا فَقَالَتْ إِنْ شِئْتُمْ لَأَفْتِنَنَّهُ لَكُمْ قَالَ فَتَعَرَّضَتْ لَهُ فَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَيْهَا فَأَتَتْ رَاعِيًا كَانَ يَأْوِي إِلَى صَوْمَعَتِهِ فَأَمْكَنَتْهُ مِنْ نَفْسِهَا فَوَقَعَ عَلَيْهَا فَحَمَلَتْ فَلَمَّا وَلَدَتْ قَالَتْ هُوَ مِنْ جُرَيْجٍ فَأَتَوْهُ فَاسْتَنْزَلُوهُ وَهَدَمُوا صَوْمَعَتَهُ وَجَعَلُوا يَضْرِبُونَهُ فَقَالَ مَا شَأْنُكُمْ قَالُوا زَنَيْتَ بِهَذِهِ الْبَغِيِّ فَوَلَدَتْ مِنْكَ فَقَالَ أَيْنَ الصَّبِيُّ فَجَاءُوا بِهِ فَقَالَ دَعُونِي حَتَّى أُصَلِّيَ فَصَلَّى فَلَمَّا انْصَرَفَ أَتَى الصَّبِيَّ فَطَعَنَ فِي بَطْنِهِ وَقَالَ يَا غُلَامُ مَنْ أَبُوكَ قَالَ فُلَانٌ الرَّاعِي قَالَ فَأَقْبَلُوا عَلَى جُرَيْجٍ يُقَبِّلُونَهُ وَيَتَمَسَّحُونَ بِهِ وَقَالُوا نَبْنِي لَكَ صَوْمَعَتَكَ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ لَا أَعِيدُوهَا مِنْ طِينٍ كَمَا كَانَتْ فَفَعَلُوا وَبَيْنَا صَبِيٌّ يَرْضَعُ مِنْ أُمِّهِ فَمَرَّ رَجُلٌ رَاكِبٌ عَلَى دَابَّةٍ فَارِهَةٍ وَشَارَةٍ حَسَنَةٍ فَقَالَتْ أُمُّهُ اللَّهُمَّ اجْعَلِ ابْنِي مِثْلَ هَذَا فَتَرَكَ الثَّدْيَ وَأَقْبَلَ إِلَيْهِ فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْنِي مِثْلَهُ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى ثَدْيِهِ فَجَعَلَ يَرْتَضِعُ قَالَ فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَحْكِي ارْتِضَاعَهُ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ فِي فَمِهِ فَجَعَلَ

جریج په بلا کښې گرفتار کړم بیا هغه ښځه د جریج مخې ته راغله لیکن جریج د هغې په طرف خیال هم او نه کړو آخر هغه د یو شپونکی خواله راغله چه هغه د جریج د عبادت خانې په خوا کښې دمه کوله نو هغه له ئې د خپل نفس اجازت ورکړو او هغه ورسره صحبت اوکړو. هغه حامله شوه او هر کله چه بچې ئې پیدا شو نو اوئې وئیل چه دا بچې د جریج دے. دے خبرے په اوریدو خلق په جریج پسے راغے او هغه ته ئې اووے راکوز شه او د هغه عبادت خانه ئې اوغورځوله او د هغه په وهلو ئې شروع اوکړه. هغه اووے دا پتاسو څه اوشو؟ هغوی اووے تا زنا کړے ده د هغه بدکارے ښځې سره او هغې یو بچې هم زیږولے دے ستا نه جریج اووے هغه بچې کوم ځائے دے ؟ خلقو هغه راوړو. جریج اووے لږ ما پریږدئ چه مونځ اوکړمه. پس مونځ ئې اوکړو او د هغه بچی خواله راغے د هغه ګیډے له ئې یو تك ورکړو او اوئې وئیل. اے بچیه ستا پلار څوك دے؟ هغه اووے فلانے شپونکے دے. دے په اوریدو خلقو په جریج پسے منډے کړے او ښکلا ئې کړو او ورته ئې اووے ستا عبادت خانه مونږ په سروزرو جوړه وو. هغه اووے نه څنګه چه وه هغسے ئې د خاؤرو نه بیا جوړه کړئ نو خلقو جوړه کړه. دریم یو ماشوم له خپلے مور پئ ورکول چه په دے کښې یو سړے پاکو جامو والا په آس سور تیر شو. د ماشوم مور اووے یا الله ځما دا بچې دغه شان کړه. دے په اوریدو هغه ماشوم د مور سینه پریخوده او د هغه شاهسوار په طرف ئې اوکتل او اوئې وئیل یا الله ما داسے نه کړے او بیا ئې پئ خوړل شروع کړل. ابوهریرہ وائی لکه چه زۀ اوس حضرت ﷺ لره وینمه او حضرت د هغه بچی د پئ خوړلو نقل کولو

يَمَصُّهَا قَالَ وَمَرُّوا بِجَارِيَةٍ وَهُمْ يَضْرِبُونَهَا وَيَقُولُونَ زَنَيْتِ سَرَقْتِ وَهِيَ تَقُولُ حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ فَقَالَتْ أُمُّهُ اللَّهُمَّ لاَ تَجْعَلِ ابْنِي مِثْلَهَا فَتَرَكَ الرَّضَاعَ وَنَظَرَ إِلَيْهَا فَقَالَ اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِثْلَهَا فَهُنَاكَ تَرَاجَعَا الْحَدِيثَ فَقَالَتْ حَلْقَى مَرَّ رَجُلٌ حَسَنُ الْهَيْئَةِ فَقُلْتُ اللَّهُمَّ اجْعَلِ ابْنِي مِثْلَهُ فَقُلْتَ اللَّهُمَّ لاَ تَجْعَلْنِي مِثْلَهُ وَمَرُّوا بِهَذِهِ الأَمَةِ وَهُمْ يَضْرِبُونَهَا وَيَقُولُونَ زَنَيْتِ سَرَقْتِ فَقُلْتُ اللَّهُمَّ لاَ تَجْعَلِ ابْنِي مِثْلَهَا فَقُلْتَ اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِثْلَهَا قَالَ إِنَّ ذَاكَ الرَّجُلَ كَانَ جَبَّارًا فَقُلْتُ اللَّهُمَّ لاَ تَجْعَلْنِي مِثْلَهُ وَإِنَّ هَذِهِ يَقُولُونَ لَهَا زَنَيْتِ وَلَمْ تَزْنِ وَسَرَقْتِ وَلَمْ تَسْرِقْ فَقُلْتُ اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِثْلَهَا

په دے شان چه د کلمے ګوته ئے په خپله خلهٔ کښې رودله حضرت ﷺ اوفرمائیل بیا خلقو یوه وینځه راوسته او راغلل هغه وینځه ئے وهله او ورته ئے وئیل تا زنا کړے ده او غلا د کړے ده. هغے اووے الله څما بس دے. او هغه څما وکیل دے. د بچی مور اووے یا الله څما دا بچے ددے پشان نهٔ کړے. ددے په اوریدو بچی پئ خوړل پریخودو او د هغه وینځی په طرف ئے اوکتل او اوئے وئیل یا الله ما ددے پشان کړے دغه وخت د مور او بچی په مینځ کښې خبرے اترے اوشوے. مور ئے اووے اے کتا سریه! هر کله چه هغه سړے په ښه شکل راغے او ما اووے یا الله څما بچی هم داسے کړے او تاوئیل یا الله ما داسے نهٔ کړے. او دا وینځه خلق وهی او ورته وائی تا غلا او زنا کړے ده نو ما اووے یا الله څما بچے داسے نکړے نو تهٔ وائے یا الله ما ددے په شان کړه (دا څهٔ خبره ده) بچی اووے هغے شاهسوار یو ظالم سړے وو. ما دُعا اوکړه چه یا لله ما ددهٔ پشان نهٔ کړے. او په دغه وینځه باندے خلق تهمت وائی چه تا غلا او زنا کړے ده او حالانکه دے نهٔ غلا کړے ده او نهٔ ئے زنا کړے ده. نو ما اووے یا الله ما ددے پشان کړے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَغِمَ أَنْفُ ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ قِيلَ مَنْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی پوزه دِ په خاؤرو ککړه شی بیا دِ ئے پوزه په خاورو کښې ککړه شی بیا دِ ئے پوزه په خاورو کښې ککړه شی د هغه چا چه هغه خپل مور پلار بوډاګان اووینی دواړه یا یو د هغوی نه او دے جنت ته لاړ نهٔ شی (د هغوی د

---

[1] نوویؒ وائی د جریج د حدیث نه څو فائدے رااووتے یو خو د مور پلار سره د نیکئ کولو فضیلت. دویم د مور د حق تاکید دریم مور چه کله آواز اوکړی نو جواب ورکول پکار دی. څلورم چه هر کله دوه حکمونه جمع شی نو ضروری حکم مخکښې کول پکار دی. پنځم دا چه د مصیبت په وخت الله خپلو دوستانو ته لار کهولاوه وی او ددُعا په وخت مونځ کول او د مانځهٔ دپاره مخکښې اودس کول مستحب دی او اودس زمونږ نه په مخکښې امتونو کښې هم وو. او کرامات د اولیاؤ حق دی. او دغه د اهل سنتو مذهب دے (انتهی مختصراً)

فَلَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ

خدمت په وجه)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَغِمَ أَنْفُهُ ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ قِيلَ مَنْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ

د ابوهريرةؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ فرمائيلي دي. په خاورو د ککړه شي د هغهٔ پوزه بيا د په خاورو ککړه شي د هغهٔ پوزه، بيا د په خاورو ککړه شي د هغهٔ پوزه. صحابوؓ عرض اوکړو د چا يا رسول اللهﷺ. حضرتﷺ اوفرمائيل . د هغهٔ چا چه او موندل خپل مور او پلار په بوډا والي کښې دواړو لره يا يو لره (بيا هغوی راضي نهٔ کړي) جنت ته لاړ نهٔ شي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَغِمَ أَنْفُهُ ثَلَاثًا ثُمَّ ذَكَرَ مِثْلَهُ

د ابوهريرةؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ درے ځل اوفرمائيل د هغهٔ د پوزه په خاورو ککړه شي بيا ئے د پورتني حديث پشان بيان کړو.

بَابُ فَضْلِ صِلَةِ أَصْدِقَاءِ الْأَبِ وَالْأُمِّ وَنَحْوِهِمَا

باب : د مور پلار د دوستانو سره د سلوك کولو فضيلت

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَعْرَابِ لَقِيَهُ بِطَرِيقِ مَكَّةَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ وَحَمَلَهُ عَلَى حِمَارٍ كَانَ يَرْكَبُهُ وَأَعْطَاهُ عِمَامَةً كَانَتْ عَلَى رَأْسِهِ فَقَالَ ابْنُ دِينَارٍ فَقُلْنَا لَهُ أَصْلَحَكَ اللهُ إِنَّهُمُ الْأَعْرَابُ وَإِنَّهُمْ يَرْضَوْنَ بِالْيَسِيرِ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ إِنَّ أَبَا هَذَا كَانَ وُدًّا لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَبَرَّ الْبِرِّ صِلَةُ الْوَلَدِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه د مکے په لاره کښې د هغوی سره يو باندچي ميلاؤ شو عبد الله هغوی ته سلام اوکړو او په کوم خر چه به پخپله سوريدو په هغے ئے سور کړو او د خپل سَر پټکے ئے هغوی ته ورکړو. عبد الله بن دينار هغوی ته اووے الله د ستا سره نيکي اوکړي باندچي خو په لږ څهٔ خوشحاليږي (هغهٔ ته دومره قدرے ورکول څهٔ ضروري وو) عبد الله بن عمرؓ اووے ددهٔ پلار (خما د پلار عمر بن خطاب) دوست وو او ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي دي. لويه نيکي داده چه هلك د خپل پلار د دوستانو سره سلوك کوي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبَرُّ الْبِرِّ أَنْ يَصِلَ الرَّجُلُ وُدَّ أَبِيهِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي لويه نيکي داده. چه هلك د خپل پلار د دوستانو سره احسان اوکړي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ كَانَ لَهُ حِمَارٌ يَتَرَوَّحُ عَلَيْهِ إِذَا مَلَّ رُكُوبَ

د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه هر کله چه به هغوی مکے ته تلو نو يو خر به ئے د خان سره د تفريح دپاره بوتلو هر کله چه

الرَّاحِلَةِ وَعِمَامَةٌ يَشُدُّ بِهَا رَأْسَهُ فَبَيْنَا هُوَ يَوْمًا عَلَى ذَلِكَ الْحِمَارِ إِذْ مَرَّ بِهِ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ أَلَسْتَ ابْنَ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ قَالَ بَلَى فَأَعْطَاهُ الْحِمَارَ وَقَالَ ارْكَبْ هَذَا وَالْعِمَامَةَ قَالَ اشْدُدْ بِهَا رَأْسَكَ فَقَالَ لَهُ بَعْضُ أَصْحَابِهِ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ أَعْطَيْتَ هَذَا الْأَعْرَابِيَّ حِمَارًا كُنْتَ تَرَوَّحُ عَلَيْهِ وَعِمَامَةً كُنْتَ تَشُدُّ بِهَا رَأْسَكَ فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ مِنْ أَبَرِّ الْبِرِّ صِلَةَ الرَّجُلِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ بَعْدَ أَنْ يُوَلِّيَ وَإِنَّ أَبَاهُ كَانَ صَدِيقًا لِعُمَرَ

به د اوښ په سورلۍ ستړے شو نو په هغې به سوريدو. او يو پټکے به ورسره وو چه هغه به ئې په سر تړلو. يوه ورځ هغه په خر باندے سور روان وو چه په دے کښ يو باندچي رااووتو عبد الله ورته اووے. ته د فلانی ... ئې او د فلانی نمسے ئې. هغهٔ اووے آو. عبد الله هغهٔ ته خر ورکړو. او ورته ئې اووے په دے سور شه. او يو پټکے ئې ورته ورکړو او ورته ئې اووے دا پخپل سر باندے اوتړه. د عبد الله څنې ملګرو هغهٔ ته اووے. تهٔ خو د خپل آرام خر ورکړو او پټکے دِ هم ورکړو چه پخپل سر به دِ تړلو الله دِ تا اوبخښی. هغوی اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئې وو لويه نيکی داده چه بنده بنهٔ سلوك اوکړی د خپل پلار د دوستانو سره د پلار د مرګ نه پس او د هغه باندچی پلار د حضرت عمرؓ دوست وو.

بَابُ تَفْسِيرِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ

باب: د نيکئ او د بدئ معنی

عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سِمْعَانَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ فَقَالَ الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ

د نواس بن سمعانؓ نه روايت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ د نيکئ او بدئ په باره کښ تپوس اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل نيکی خوږو اخلاقو ته وئيلے شی (يعنی په خوشمزاجئ سره ميلاويدل د خلقو د زړهٔ ساتنه د خپل وس مطابق کول او په دنياوی امورو کښ چا لره نهٔ خفه کول) او ګناه هغه ده چه هغه ستا په زړهٔ کښ ورته وځی او پتا بدلګی چه خلق د هغے نه خبر شی[1].

عَنْ نَوَّاسِ بْنِ سِمْعَانَ قَالَ أَقَمْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ سَنَةً مَا يَمْنَعُنِي مِنَ الْهِجْرَةِ إِلَّا الْمَسْأَلَةُ كَانَ أَحَدُنَا إِذَا هَاجَرَ لَمْ يَسْأَلْ رَسُولَ اللَّهِ

د نواس بن سمعان نه روايت دے وائی چه زهٔ د رسول الله ﷺ سره وم په مدينه کښ د يو کاله پورے (په دے سان ا کے، چه څوك به د حضرت ﷺ د ملاقات دپاره د بل ملك نه راغے او خپل ملك ته به ئې د واپس تلو اراده لره) او ما هجرت نهٔ وو کړے (يعنی خپل ملك ته مے د تلو اراده

[1] سبحان الله خومره مزيدار تعريف دے خکه چه ټول ګناهونه په دے کښ راغلل

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ قَالَ فَسَأَلْتُهُ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي نَفْسِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ

موقوف کړے نۀ وه) مګر ددے وجے نه چه هر کله به چا زمونږ نه هجرت کوو نو د رسول الله ﷺ نه به نے د څۀ تپوس نه کوؤ، په خلاف د مسافرو چه هغوی ته د تپوس اجازت وو) ما تپوس اوکړو د حضرتؐ نه د نیکئ او بدئ په باره کښ. حضرت ﷺ اوفرمائیل نیکی خانسته اخلاق دی او ګناه هغه ده چه هغه په زړۀ کښ خائے اونیسی او خلقو له د هغے نه خبریدل بد لګی په تاباندے.

بَابُ صِلَةِ الرَّحِمِ وَتَحْرِيمِ قَطِيعَتِهَا

باب: رشته پریکول حرام دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ خَلَقَ الْخَلْقَ حَتَّى إِذَا فَرَغَ مِنْهُمْ قَامَتِ الرَّحِمُ فَقَالَتْ هٰذَا مَقَامُ الْعَائِذِ مِنَ الْقَطِيعَةِ قَالَ نَعَمْ أَمَا تَرْضَيْنَ أَنْ أَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ وَأَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ قَالَتْ بَلَى قَالَ فَذَاكِ لَكِ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ أُولٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ نرمائیلی دی چه بیشکه هر کله چه الله تعالی اخلاق جوړ کړل او د هغے د جوړولو نه فارغه شو نو خپلولی پاڅیده او اونے ونیل دا مقام د هغه چا دے (یعنی د حال په ژبه یا یو فرښتے د هغے د طرفنه اووے. او دا تاویل دے او ظاهری معنٰی ټهیك ده چه پخپله خپلولئ اووے او څۀ مانع نشته د خپلوئ د ژبے کیدو نه په هغه عالم کښ) چه هغه د خپلولئ د پریکولو نه پناه غواړی. الله تعالی اوفرمائیل آو ته په دے خبره خوشحاله نۀ ئے چه زۀ د هغه چا سره میلاؤ شم څوك چه ستاسره میلاویږی. او د هغۀ سره تعلق کټ کړم څوك چه ستا سره تعلق پریکوی. خپلولئ اووے زۀ راضی یم په دے سره. الله تعالی اوفرمائیل پس تاته دا درجه حاصله شوه. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل کچرے ستاسو زړۀ غواړی نو دا آیت لولئ: الله تعالی منافقانو ته فرمائی کچرے ستاسو حکومت راشی نو تاسو به په زمکه کښ فساد خور کړئ او خپلولئ به پریکړئ. دا هغه خلق دی چه په هغوی باندے الله خپل لعنت ونیلے دے او هغه نے کانړۀ کړی دی (د حقے خبرے د اوریدنو نه) او د هغوی سترګے نے ړندے کړے دی. یا خو دوی په قران باندے څۀ غور نۀ کوی. یا خو د دوی په

زړونو باندے تالے لګيدلی دی د آخره پورے

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُوْلُ مَنْ وَصَلَنِي وَصَلَهُ اللهُ وَمَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ اللهُ

د مومنانو د مور حضرت عائشے رضی الله عنها نه روايت دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی صله رحمی د عرش سره زوړنده ده او وائی څوك چه خما سره ميلاؤ شی الله به هغه د خپل خان سره ميلاؤ کړی. او څوك چه خما سره تعلق کټ کړی الله به د هغوی سره تعلق پريکړی.

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ قَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ سُفْيَانُ يَعْنِي قَاطِعَ رَحِمٍ

د جبير بن مطعم رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی نۀ به داخليږی جنت ته هغه څوك چه صله رحمی ختموی[1].

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د زهری نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے او په دے کښی دی چه اوريدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه.

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعُ رَحِمٍ

د جبير بن مطعم نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی خپلولی پريکونکے به جنت ته نۀ داخليږی (يعنی په اول وخت کښی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ أَوْ يُنْسَأَ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روايت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو د چا چه خوښه وی چه د هغۀ روزی د ډيره شی او عمر دِ ئے زيات شی نو هغه دِ د خپلوانو سره ښۀ سلوك کوی[2].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی څوك چه خپله روزی سوا کول او عمر زياتيدل غواړی نو هغه د خپلولی

---

[1] يعنی څوك چه صله رحمی موتول حلال او ګڼړی هغه خو کافر دے هميشه به په جهنم کښی وی. او څوك چه ئے حلال نۀ ګڼړی هغه به په رومبی خل نۀ داخليږی بلکه منع کولے به شی د لږے مودے پورے د صله رحمی پريکولو په عذاب کښی. (نووی)

[2] يعنی د رشته دارو سره دِ ښه سلوك کوی. دلته دا اشکال دے چه عمر خو د مخکښی نه مقرر شوے دے نو هغه به زياتيږی څنګه د هغے جواب دا دے چه د عمر زياتيدو نه دا غرض دے چه د هغۀ په عبادت کښی به برکت وی. او دد عمر معلق مراد دے چه کۀ خپلولی پالی نو دومره عمر دے ورنه دومره دے يا مراد دا دے چه د مرګ نه پس به هم هغه د خير په کارونو کښی ياديږی نو دا لکه چه عمر سوا شو (نووی مختصراً)

فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ

کښې ښه سلوك كوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي قَرَابَةً أَصِلُهُمْ وَيَقْطَعُونِي وَأُحْسِنُ إِلَيْهِمْ وَيُسِيئُونَ إِلَيَّ وَأَحْلُمُ عَنْهُمْ وَيَجْهَلُونَ عَلَيَّ فَقَالَ لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَأَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ وَلَا يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللهِ ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذَلِكَ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ته يو سړى اووے چه يا رسول الله! خما څۀ خپلوان دى زۀ د هغوى سره احسان کوم او هغوى خما سره بد كوى. زۀ ورسره خپلولى كوم او هغه جهالت كوى حضرت ورته اوفرمائيل كچرے ته په حقيقت کښې داسے کوے نو د هغوى په مخ باندے سوے ايرے غورځوے. او هميشه به د الله جل جلاله د طرفه ستا سره يوه فرښته وى چه هغه به تالره په هغوى باندے غالب كوى د كومے پورے چه تۀ داسے كوے[1].

بَابُ تَحْرِيمِ التَّحَاسُدِ وَالتَّبَاغُضِ وَالتَّدَابُرِ

باب: د حسد او د بغض او د دشمنئ حراميدل

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ

د انس بن مالك ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه مۀ بغض ساتئ د يو بل سره مۀ حسد كوئ د يو بل سره او مۀ دشمنى كوئ د يو بل سره. او شئ بنديګانو د الله رونړه رونړه. او نۀ دى حلال يو مسلمان لره چه پريږدى دے د خپل ورور ملاقات لره د درے ورځو نه زيات[2]

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ

د انس ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى څنګه

حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ وَابْنُ أَبِي عُمَرَ وَعَمْرٌو النَّاقِدُ جَمِيعًا عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ ابْنُ عُيَيْنَةَ وَلَا تَقَاطَعُوا

چه د زهرى په اسناد سره د مالك ؓ نه روايت دے. ابن عيينه دومره زياته كړے ده چه مۀ پريكوئ رشتے يا دوستى او محبت لره.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ أَمَّا رِوَايَةُ يَزِيدَ عَنْهُ فَكَرِوَايَةِ سُفْيَانَ عَنِ الزُّهْرِيِّ يَذْكُرُ

د زُهرى نه په دے اسناد سره روايت دے. مګر يزيد چه ددۀ نه روايت كړے دے هغه هغسے دے څنګه چه سُفيان د زهرى نه

---

[1] سوے ايرے غورځوے يعنى دهغوى دپاره د جهنم عذاب دے يا شرمندګى او ذلت لره ئے په سوزيدلو ايرو سره تعبير او كړو. دد ے حديث نه: صله رحمى لوئے فضيلت ثابت شو چه فرښتے د صله رحمئ كونكى په مدد كښې اوسيږى

[2] حسد ونيلے شى: بل كس د نعمت زوال غوښتلو ته او دا سخت حرام دى او لويبلا ده حسد كونكے چرته هم خوشحاله نۀ شى پاتے كيدے او د حسد بيمارى هغۀ لره خورى

الْخِصَالَ الْأَرْبَعَةَ جَمِيعًا وَأَمَّا حَدِيثُ عَبْدِ الرَّزَّاقِ وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَقَاطَعُوا وَلَا تَدَابَرُوا

روایت کړے دے چه په دے کښی د څلورو خصلتونو ذکر دے او د عبد الرزاق په حدیث کښی دی. چه مۀ حسد کوئ، مۀ پریکول د تعلق کوئ او مۀ دشمنی کوئ د یو بل سره.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَقَاطَعُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا

د انس رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د یو بل سره حسد مۀ کوئ، مۀ بغض ساتئ مۀ تعلقات ماتوئ او شئ د الله بندیګانو په خپل مینځ کښی رونړه رونړه.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ كَمَا أَمَرَكُمُ اللَّهُ

د شعبه نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے او دومره زیاته ده چه شئ د رونړو پشان څنګه چه حکم کړے دے تاسو ته الله (په قرآن کښی)

بَابُ تَحْرِيمِ الْهَجْرِ فَوْقَ ثَلَاثٍ بِلَا عُذْرٍ شَرْعِيٍّ

باب: بغیر د شرعی عذر نه د دریو ورځو نه زیات د یو مسلمان نه خفا کیدل حرام دی

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ

د ابو ایوب انصاری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هیڅ یو مسلمان لره دا روا نۀ دی چه خپل رور مسلمان پریږدی د دریو شپو نه زیات په دے شان چه دواړه میلاؤ شی دے دیخوا مخ کړی او هغه اخوا مخ اوګرځوی. غوره په هغه دواړو کښی هغه دے کوم چه مخکښی سلام اوکړی.[1]

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ مَالِكٍ وَمِثْلِ حَدِيثِهِ إِلَّا قَوْلَهُ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا فَإِنَّهُمْ جَمِيعًا قَالُوا فِي حَدِيثِهِمْ غَيْرَ مَالِكٍ فَيَصُدُّ هَذَا وَيَصُدُّ هَذَا

د زهری نه د مالك په اسناد سره دغسے روایت دے په دے کښی لفظ يُعْرِضُ دے او د مالك نه علاوه د نورو راویانو په حدیثونو کښی لفظ يَصُدُّ دے (د دواړو لفظونو معنے یو دی)

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ لَا

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نۀ

[1] د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه دریو ورځو پورے پریخودل صحیح دی ولے چه د زیاتے غصے وغیره په وجه بنیادم مجبوره کیږی پس د دریو ورځو پورے پریخودل معاف شو او د دے نه زیات روا نۀ دی. او څنے وائی چه د درے ورځو پوری هم پریخودل روا نۀ دی او هر کله چه السلام علیکم شروع شی نو پریخودل ختم شو په دے شرط چه هغۀ ته ضرر ورنۀ کړی په دے شان کچرے هغۀ ته خط اولیکی یا پیغام اولیږی نو بیا هم د پریخودلو ګناه ختمیږی (نووی مختصراً)

يَحِلُّ لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ

دی حلال مؤمن لره پريخودل د خپل رور د درے ورځو نه زيات

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا هِجْرَةَ بَعْدَ ثَلَاثٍ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی د درے ورځو نه زيات پريخودل نشته دے.

بَابُ تَحْرِيمِ الظَّنِّ وَالتَّجَسُّسِ وَالتَّنَافُسِ وَالتَّنَاجُشِ وَنَحْوِهَا

باب: بدګمانی او ډډون لګول او پسخيدل او تيزول حرام دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَافَسُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی خان اوساتئ د بدګمانئ نه ځکه چه بدګمانی لوئے دروغ دی. او مهٔ غوږ ايږدئ او مهٔ ډډون لګوئ او مهٔ د يو بل نه د مخکښې کيدو کوشش کوئ په دنيا کښې په دين کښې خو ډير ښهٔ دے او مهٔ حسد کوئ او مهٔ بغض کوئ او مهٔ دشمنی کوئ او شئ د الله بنديګانو رونړه رونړه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَهْجُرُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی مهٔ پريږدئ يو بل لره او مهٔ دشمنی کوئ او مهٔ غوږ ايږدئ د چا د راز اوريدو دپاره. او مهٔ خرڅوئ بعض ستاسو نه په بيع د بعضو باندے او شئ د الله بنديګانو رونړه رونړه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی مهٔ حسد کوئ مهٔ بغض کوئ مهٔ د چا پته لګوئ او مهٔ غوږ ايږدئ د چا د راز د اوريدو او مهٔ بولی کوئ. او شئ د الله بنديګانو رونړه رونړه.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ لَا تَقَاطَعُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَكُونُوا إِخْوَانًا كَمَا أَمَرَكُمُ اللهُ

د اعمش نه په دغه اسناد سره روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی تعلق مهٔ قطع کوئ او دشمنی حسد مهٔ کوئ بغض مهٔ کوئ او ځنګه چه الله حکم درکړے دے د هغهٔ بنديګان جوړ شئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَلَا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دی مهٔ بغض ساتئ، مهٔ دشمنی ساتئ، او مهٔ د يو بل نه د مخکښې کيدو کوشش

تَنَافَسُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا

کوئ او شئ د الله بندیګانو رونړه رونړه.

بَابُ تَحْرِيمِ ظُلْمِ الْمُسْلِمِ وَخَذْلِهِ

باب: په مسلمان ظلم کول او هغهٔ لره ذلیل کول حرام دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. مهٔ حسد کوئ، مهٔ دلالی (د کمیشن او د لالئ په لالچ کښې د خرخوونکی د خراب مال صفت کول عارف) کوئ. بغض مهٔ ساتئ، دشمنی مهٔ کوئ. او څوك د ستاسو نه د بل د بیعے دپاسه بیعه نهٔ کوی. او شئ د الله بندیګان رونړه رونړه. مسلمان د مسلمان رور دے نهٔ به په هغهٔ باندے ظلم کوی نهٔ به هغه ذلیله کوی نهٔ به هغهٔ ته سپك ګوری. تقوی او پرهیزګاری دلته ده او اشاره اوکړه حضرتؐ د خپلے سینے په طرف درے خله (یعنی په ظاهره په ښه عمل کولو سره سړے متقی کیږی ترڅو پورے چه ددهٔ سینه صاف نهٔ وی) پوره دی سړی لره دا بد چه هغه خپل رور مسلمان سپك اوګنړی د مسلمان ټول څیزونه په بل مسلمان باندے حرام دی د هغهٔ وینه، مال، عزت او آبرو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ دَاوُدَ وَزَادَ وَنَقَصَ وَمِمَّا زَادَ فِيهِ إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَادِكُمْ وَلَا إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَشَارَ بِأَصَابِعِهِ إِلَى صَدْرِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی (مخکښې) د داؤد (راوی) د حدیث پشان او په دے کښې څهٔ زیاتے او کمے کړے دے. او زیاتے دا دے چه الله ستاسو بدنونو ته نهٔ ګوری او نهٔ ستاسو شکلونو ته بلکه هغه ستاسو زړونو ته ګوری او په خپلو ګوتو سره اشاره کوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه الله تعالی ستاسو شکلونو او ستاسو مالونو ته نهٔ ګوری لیکن ستاسو زړونو او ستاسو عملونو ته ګوری.

بَابُ عَنِ الشَّحْنَاءِ

باب: د کینه ساتلو ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی د جنت

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا إِلَّا رَجُلًا كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ أَنْظِرُوا هٰذَيْنِ حَتّٰى يَصْطَلِحَا أَنْظِرُوا هٰذَيْنِ حَتّٰى يَصْطَلِحَا

دروازے بیرته کیږی د ګل او د زیارت په ورځ پس د هر یو بنده مغفرت کیږی چه هغه د الله سره څوك شریك نه وی ګرځولے مګر هغه سړے چه د هغهٔ او د هغهٔ د رور په مینځ کښ کینه وی د هغه مغفرت نهٔ کیږی او حکم کیږی چه دے دواړو ته ګوری؛ ترهغې پورے چه میلاؤ شی. (هر کله چه میلاؤ شی نو اوبهٔ بخښلے شی)

عَنْ سُهَيْلٍ عَنْ أَبِيهِ بِإِسْنَادِ مَالِكٍ نَحْوَ حَدِيثِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ الدَّرَاوَرْدِيِّ إِلَّا الْمُتَهَاجِرَيْنِ مِنْ رِوَايَةِ ابْنِ عَبْدَةَ و قَالَ قُتَيْبَةُ إِلَّا الْمُهْتَجِرَيْنِ

سهیل د خپل پلار نه د مالك په اسناد سره روایت کړے دے د پورتنی حدیث پشان. مګر دراوردی په حدیث کښ دے. سوا د هغه دواؤ سړو نه کمو چه په خپل مینځ کښ ملاقات پریخے وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَفَعَهُ مَرَّةً قَالَ تُعْرَضُ الْأَعْمَالُ فِي كُلِّ يَوْمِ خَمِيسٍ وَاثْنَيْنِ فَيَغْفِرُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي ذٰلِكَ الْيَوْمِ لِكُلِّ امْرِئٍ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا إِلَّا امْرَأً كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ ارْكُوا هٰذَيْنِ حَتّٰى يَصْطَلِحَا ارْكُوا هٰذَيْنِ حَتّٰى يَصْطَلِحَا

ابوهریرهؓ یو خل مرفوع حدیث بیان کړو چه په هر زیارت او ګل ورځ اعمال پیش کیږی. نو په هغه ورځ د هغه سړی مغفرت کیږی چه الله سره څوك شریك کوی نه سوا د هغه دواؤ سړو نه چه د هغوی په مینځ کښ کینه وی. پس حکم اوشی چه دا دواړه پریږدوئ تردے پورے چه ددے دواړو صلح صفائی اوکړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُعْرَضُ أَعْمَالُ النَّاسِ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ إِلَّا عَبْدًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ اتْرُكُوا أَوِ ارْكُوا هٰذَيْنِ حَتّٰى يَفِيئَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ اوفرمائیل. د خلقو اعمال پیش کیږی په هره هفته کښ دوه خله د ګل او د زیارت. بیا بخښنه کیږی د هر مسلمان بنده مګر د هغه بنده چه د هغهٔ کینه وی د خپل رور سره نو ونیلے کیږی پریږدوئ یا اودروئ دے دواړو لره تر دے پورے چه دوی میلاؤ شی.

بَابُ فِي فَضْلِ الْحُبِّ فِي اللهِ

باب: د الله دپاره د مینے فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يَقُولُ يَوْمَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی الله تعالی به د قیامت په ورځ اوفرمائی چه کوم خائے دی هغه خلق چه

الْقِيَامَةِ أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي

هغوی به خما د لوئی والی او اطاعت دپاره د یو بل سره محبت کولو. نن ورځ به زهٔ دوی لره د خپل سُوری لاندے ساتم. او نن ورځ څهٔ سورے نشته سوا خما د سوری نه[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا زَارَ أَخًا لَهُ فِي قَرْيَةٍ أُخْرَى فَأَرْصَدَ اللهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِهِ مَلَكًا فَلَمَّا أَتَى عَلَيْهِ قَالَ أَيْنَ تُرِيدُ قَالَ أُرِيدُ أَخًا لِي فِي هٰذِهِ الْقَرْيَةِ قَالَ هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا قَالَ لَا غَيْرَ أَنِّي أَحْبَبْتُهُ فِي اللهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ فَإِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكَ بِأَنَّ اللهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یو سړے د خپل رور د ملاقات دپاره د یو بل کلی په طرف روان شو. الله تعالی هغهٔ ته په لاره کښې یوه فرښته اودروله هر کله چه هغه (د فرښتے خواله) اورسیدو نو هغه فرښتے ترے تپوس اوکړو تهٔ چرته ځے هغهٔ اووے په دی کلی کښې خما یو رور دے د هغهٔ د ملاقات دپاره ورځم. فرښتے اووے په تا باندے د هغهٔ څهٔ احسان شته چه د هغے په وجه تهٔ د هغهٔ خواله ورځے. هغهٔ اووے نه څهٔ احسان د هغهٔ په ما باندے نشته خو صرف د الله د رضا دپاره ورځم د هغهٔ سره محبت کوم. فرښتے اووے زهٔ الله تاته رالیږلے یم. او الله ستا سره محبت کوی ځکه چه تهٔ د اللهؑ په لاره کښې د خپل رور سره محبت کوے.

بَابُ فَضْلِ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ

باب : د بیمار پُرسئ ثواب

عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ أَبُو الرَّبِيعِ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ وَفِي حَدِيثِ سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَائِدُ الْمَرِيضِ فِي مَخْرَفَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَ

د ثوبانؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. چه د بیمار تپوس کولو والا (چه د هغهٔ کور ته لاړ شی) د جنت په باغ کښې دے تر هغے پورے چه واپس شی.

عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَادَ مَرِيضًا لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَ

ثوبان، د رسول الله ﷺ د غلام نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. کوم سری چه د مریض عیادت اوکړو هغه د جنت په باغ کښې وی تر هغه وخت پورے چه دے واپس شی.

[1] علاوه خما د سوری نه یعنی خما د پناه نه یا خما د نعمت نه یا خما د عرش د سوری نه د الله جل جلاله دپاره محبت هغه دے چه د هغهٔ د تعمیل او رضامندئ دپاره وی لکه محبت ساتل د دیندارو سره د عالمانو او پرهیزګارانو سره

عَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَ

عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ مَنْ عَادَ مَرِيضًا لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا خُرْفَةُ الْجَنَّةِ قَالَ جَنَاهَا

عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا ابْنَ آدَمَ مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِي قَالَ يَا رَبِّ كَيْفَ أَعُودُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِي فُلَانًا مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِي عِنْدَهُ يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعِمْنِي قَالَ يَا رَبِّ وَكَيْفَ أُطْعِمُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ أَطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِي قَالَ يَا رَبِّ كَيْفَ أَسْقِيكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ اسْتَسْقَاكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تَسْقِهِ أَمَا إِنَّكَ

د ثوبان رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه مسلمان هر کله د یو خپل مسلمان رور عیادت کوی نو هغه د جنت په باغ کښې وی تر هغه پورے چه هغه واپس شی.

ثوبان، د رسول الله ﷺ د غلام نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چا چه د مریض تپوس اوکړو نو همیشه به دے د جنت په خُرفه کښې وی. تپوس اوشو خُرفه د جنت څۀ ده یا رسول الله ﷺ حضرت ﷺ اوفرمائیل. د جنت باغ.

د عاصم احول نه په دے اسناد سره روایت دے.

د ابوهریره رض نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ـ تعالی به د قیامت په ورځ اوفرمائی چه اے د آدم خویه! زۀ بیمار شوے وم تا خما تپوس نۀ دے کړے. هغه به اووائی اے پروردګاره! [illegible] څنګه خبر واخلم ته خو د ټول جهان مالك ئې پروردګار به اوفرمائی تا ته معلومه نۀ ده چه خما فلانے بنده بیمار شوے وو تا د هغۀ خبر نۀ وو اخستے. کچرے تا د هغۀ خبر اخستے وے نو زۀ به د هغۀ په خوا کښې موندلے وم. اے د آدم خویه! ما ستا نه غله غوښتلے وه تا ما ته غله نۀ وه راکړے. هغه به اووائی اے ربه ما به په تا څنګه غله خوړلے وے ته خو د ټول جهان مالك ئې پروردګار به اوفرمائی ولے تا ته پته نۀ ده چه خما فلانی بنده ستا نه غله غوښتلے وه او تا په هغۀ نۀ وه خوړلے کچرے تا په هغۀ خوړلے وے نو د هغے ثواب به د خما سره موندلے وو. اے د آدم خویه! ما ستا نه اوبۀ غوښتلے وے او تا په ما اوبۀ نۀ وے څکلے بنده به اووائی ما په تا څنګه اوبۀ څکلے وے ته خو پخپله د ټول جهان پالونکے ئې الله به اوفرمائی خما فلانی بنده ستا نه اوبۀ غوښتلے وے او تا پرے نۀ وے څکلے کچرے تا په هغۀ اوبۀ څکلے وے نو د هغے بدله به د

لَو سَقَيتَهُ وَجَدتَ ذَلِكَ عِندِي

خماسره موندلې وې.

بَابُ ثَوَابِ الْمُؤْمِنِ فِيمَا يُصِيبُهُ مِنْ مَرَضٍ أَوْ حُزْنٍ

باب: مؤمن ته څۀ بيمارى يا تكليف اورسى نو د هغې ثواب

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَجُلًا أَشَدَّ عَلَيْهِ الْوَجَعُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي رِوَايَةِ عُثْمَانَ مَكَانَ الْوَجَعِ وَجَعًا

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې ؓ نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ نه زياته ما په هيچا باندے د بيمارئ سختى نۀ ده ليدلې.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِإِسْنَادِ جَرِيرٍ مِثْلَ حَدِيثِهِ

د اعمش نه د جرير په اسناد سره د پورتنى حديث پشان روايت دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ وَهُوَ يُوعَكُ فَمَسِسْتُهُ بِيَدِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ لَتُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَجَلْ إِنِّي أُوعَكُ كَمَا يُوعَكُ رَجُلَانِ مِنْكُمْ قَالَ فَقُلْتُ ذَلِكَ أَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَجَلْ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى مِنْ مَرَضٍ فَمَا سِوَاهُ إِلَّا حَطَّ اللهُ بِهِ سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ زُهَيْرٍ فَمَسِسْتُهُ بِيَدِي

د عبد الله بن مسعود ؓ نه روايت دے چه زۀ يوه ورځ د رسول الله ﷺ خواله لاړم. په حضرت ﷺ تبه راغلې وه. ما پرے لاس كيښودو او عرض مے اوكړو چه يا رسول الله ﷺ تاسو له خو سخته تبه راځى. حضرت ﷺ اوفرمائيل آو. ماله دومره تبه راځى څومره چه ستاسو دوو تنو له راځى. ما اووے ستاسو دپاره دوه اجرونه دى. حضرت ﷺ اوفرمائيل آو. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل يو مسلمان داسے نشته دے چه هغۀ ته تكليف اورسى د بيمارئ يا د نور څۀ. مگر الله تعالى د هغۀ گناه داسے ريجوى لكه اونه چه خپلې پاڼې ريجوى.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِإِسْنَادِ جَرِيرٍ نَحْوَ حَدِيثِهِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ قَالَ نَعَمْ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا عَلَى الْأَرْضِ مُسْلِمٌ

د اعمش نه د جرير په اسناد سره د پورتنى حديث پشان روايت دے. او د ابو معاويه په حديث كښې دا زياته ده حضرت ﷺ اوفرمائيل آو. په هغه ذات قسم چه د هغۀ په لاس كښې زما روح دے. د زمكه د پاسه څوك مسلمان نشته

عَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ دَخَلَ شَبَابٌ مِنْ قُرَيْشٍ عَلَى عَائِشَةَ وَهِيَ بِمِنًى وَهُمْ يَضْحَكُونَ فَقَالَتْ مَا يُضْحِكُكُمْ قَالُوا فُلَانٌ خَرَّ عَلَى طُنُبِ فُسْطَاطٍ

د اسود نه روايت دے چه د قريشو څۀ ځوانان خلق د حضرت عائشې ؓ خواله لاړو هغه په منى كښې وه. او هغه خلقو خندل. حضرت عائشې ؓ ورته اووے ولې خاندئ. هغوى اووے فلانے سړے د خيمے

فَكَادَتْ عُنُقُهُ أَوْ عَيْنُهُ أَنْ تَذْهَبَ فَقَالَتْ لَا تَضْحَكُوا فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُشَاكُ شَوْكَةً فَمَا فَوْقَهَا إِلَّا كُتِبَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَمُحِيَتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ

په طناب باندے راپريوتہ د هغۀ څټ يا سترګه په تلو تلو کښې بچ شوه. حضرت عائشے اووے خندا مۀ کوئ ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي په يو مسلمان کچرے اغزے اولږي يا دے نه زيات ورته څۀ تکليف اورسي. نو د هغۀ دپاره يوه درجه زياته شي.اويو ګناه د هغۀ د عملنامے نه لرے شي.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ مِنْ شَوْكَةٍ فَمَا فَوْقَهَا إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ بِهَا دَرَجَةً أَوْ حَطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً

د حضرت عائشے نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي کچرے په مسلمان کښې ازغے لږ شي يا دے ډير کم تکليف اورسي نو الله تعالى دے وجے نه دۀ درجه اوچتوي يا دۀ ګناهونه معاف کوي.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُصِيبُ الْمُؤْمِنَ شَوْكَةٌ فَمَا فَوْقَهَا إِلَّا قَصَّ اللهُ بِهَا مِنْ خَطِيئَتِهِ

د حضرت عائشے نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي نۀ وي رسيدلے مؤمن ته يو ازغے يا زيات د هغے نه مګر الله د هغے په وجه يوه خطائي دۀ معاف کړي.

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُصِيبَةٍ يُصَابُ بِهَا الْمُسْلِمُ إِلَّا كُفِّرَ بِهَا عَنْهُ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا

هشام په دے اسناد سره د عائشے نه روايت کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. مسلمان ته څۀ تکليف حتى چه د ازغي د ننوتو تکليف هم نۀ رسي مګر الله تعالى دے وجه نه دۀ ګناه معاف کوي.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ مِنْ مُصِيبَةٍ حَتَّى الشَّوْكَةِ إِلَّا قُصَّ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ أَوْ كُفِّرَ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ لَا يَدْرِي يَزِيدُ أَيَّتُهُمَا قَالَ عُرْوَةُ

د حضرت عائشے بي بي د نبي ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل مؤمن ته څۀ تکليف نۀ رسي تر دے پورے چه د ازغي د ننوتو مګر د دے وجے نه دۀ ګناه کميږي. يائے اوفرمائيل ختميږي. راوي وئيلي دي معلومه نۀ ده عروه دے دواړو نه کومه خبره بيان کړه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ شَيْءٍ يُصِيبُ

د حضرت عائشے نه روايت دے ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي حضرت ﷺ وفرمائيل. مؤمن ته څۀ ورو کے غوندے تکليف هم

الْمُؤْمِنَ حَتَّى الشَّوْكَةِ تُصِيبُهُ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً أَوْ حُطَّتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ

ترډے پورے چه ازغی د ستو تو تکلیف هم نه رسی مګر د دے وجے نه دده دپاره یوه نیکی لیکلے کیږی یا یو خطا نے معاف کیږی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُمَا سَمِعَا رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ مَا يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ مِنْ وَصَبٍ وَلَا نَصَبٍ وَلَا سَقَمٍ وَلَا حَزَنٍ حَتَّى الْهَمِّ يُهَمُّهُ إِلَّا كُفِّرَ بِهِ مِنْ سَيِّئَاتِهِ

د ابوسعید او ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مؤمن ته چه کله څۀ تکلیف یا ضرر شی یا بیماری وی یا خفګان وی ترډے پورے چه کوم څۀ فکر دۀ ته وی نو ددۀ ګناهونه ختمیږی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ بَلَغَتْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ مَبْلَغًا شَدِيدًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَارِبُوا وَسَدِّدُوا فَفِي كُلِّ مَا يُصَابُ بِهِ الْمُسْلِمُ كَفَّارَةٌ حَتَّى النَّكْبَةِ يُنْكَبُهَا أَوِ الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا قَالَ مُسْلِم هُوَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُحَيْصِنٍ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ

د ابوهریره نه روایت دے وائی هر کله چه دا ایت نازل شو: څوك چه څۀ بدکار اوکړی د هغے بدله به ورته میلاؤیږی نو په مسلمانانو باندے ډیره سخته تیره شوه (چه د هر ګناه په بدله به ضرور عذاب وی) رسول الله ﷺ اوفرمائیل. میانه روی اختیار کړئ او صحیح لاره تلاش کوئ او د مسلمان دپاره هر یو مصیبت کفاره ده ترډے پورے چه تیندك او ازغے هم (نو د ډیرو ګناهونو بدله به هم په دے دنیا کښں ورکړے شی او د الله نه اُمید دے چه په آخرت کښں پرے مواخذه او نۀ کړے شی)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى أُمِّ السَّائِبِ أَوْ أُمِّ الْمُسَيَّبِ فَقَالَ مَا لَكِ يَا أُمَّ السَّائِبِ أَوْ يَا أُمَّ الْمُسَيَّبِ تُزَفْزِفِينَ قَالَتِ الْحُمَّى لَا بَارَكَ اللهُ فِيهَا فَقَالَ لَا تَسُبِّي الْحُمَّى فَإِنَّهَا تُذْهِبُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ كَمَا يُذْهِبُ الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د اُم السائب یا اُم المسیب خواله لاړو نو تپوس ئے اوکړو یا اُم السائب یا اُم المسیب تۀ خو ربیږے. څۀ شوی دی تالره. هغے اووے تبه ده الله دِ ئے برکتی نۀ کړی. حضرت ﷺ اوفرمائیل تبے ته بد مۀ وایه ولے چه هغه لرے کوی د خلقو ګناهونو لره لکه بهټئ چه د اوسپنے زنګ لره لرے کوی.

عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ أَلَا أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ قُلْتُ بَلَى قَالَ هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د عطاء بن ابی رباح نه روایت دے چه ما ته ابن عباس اووے اے زۀ تاسو ته یو جنتی ښځه اوښایم. ما اووے اوښایه. هغو اووے دا توره ښځه د رسول الله ﷺ خواله راغله او اوئے وئیل په ما د مرګو بیماری وه. او په دغه حالت کښں زما بدن کھولاویږی. تاسو د الله نه زما

وَسَلَّمَ قَالَتْ إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ لِي قَالَ إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَكِ قَالَتْ أَصْبِرُ قَالَتْ فَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ فَدَعَا لَهَا

دپاره دُعا اوغواړئ: حضرت ﷺ اوفرمائيل كچرے تۀ صبر اوكړے نو ستا دپاره جنت دے او كچرے تۀ وائے نو زۀ به دُعا اوغواړم الله به تا ته صحت دركړی. هغے اووے زۀ صبر كوم بيائے اووے خما بدن ښكاره كيږی نو تاسو د الله نه دُعا اوغواړئ چه خما بدن نۀ ښكاره كيږی. حضرت دُعا اوغوښته د هغے د عورت دپاره. (بيا به د هغے بدن په دغه حالت كښں هيڅكله نۀ ښكاره كيدۀ. معلومه شوه چه په بيمارۍ او مصيبت كښں د صبر كولو بدله جنت دے)

بَابُ تَحْرِيمِ الظُّلْمِ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا رَوَى عَنِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوا يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ فَاسْتَهْدُونِي أَهْدِكُمْ يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ فَاسْتَطْعِمُونِي أُطْعِمْكُمْ يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ عَارٍ إِلَّا مَنْ كَسَوْتُهُ فَاسْتَكْسُونِي أَكْسُكُمْ يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْ لَكُمْ يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوا ضَرِّي فَتَضُرُّونِي وَلَنْ تَبْلُغُوا نَفْعِي فَتَنْفَعُونِي يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ

باب : ظلم كول حرام دی

د ابوذرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ دا اوريدلی دی د الله تعالی نه چه اے خما بنديګانو ما پخپل ځان باندے ظلم حرام كړے دے او په تاسو مے هم حرام كړے دے. نو تاسو پخپل مينځ كښں په يو بل باندے ظلم مۀ كوئ: اے خما بنديګانو تاسو ټول ګمراه وئ مګر چا ته چه زۀ لار اوښايم. نو خما نه لار غواړئ زۀ به تاسو ته لار ښايم. اے خما بنديګانو تاسو ټول اوږے يئ مګر هغه څوك چه زۀ يے اوخوروم پس خوراك غواړئ خما نه زۀ به په تاسو خوروم. اے خما بنديګانو تاسو ټول بربنډوئ مګر چا ته چه زۀ كپړه واغوندم نو كپړه غواړئ خما نه زۀ به ئے اغوستوم تاسو ته اے خما بنديګانو تاسو شپه او ورځ ګناه كوئ او زۀ درته ټول ګناهونه بخښم. نو تاسو بخښش غواړئ خما نه زۀ به بخښم تاسو لره. اے خما بنديګانو تاسو خما نقصان نۀ شئ كولے او نۀ ما ته فائده رارسولے شئ: كچرے ستاسو رومبی روستی او بنيادم او پيريان او دے ټولو پرهيزګاری ستاسو نه د يو سړی په زړۀ كښں شی نو زيات به نۀ كړی دا په بادشاهۍ خما كښں هيڅ شی لره. او اے بنديګانو خما كچرے ستاسو رومبی او

وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي شَيْئًا يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي شَيْئًا يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلُونِي فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلاَّ كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ يَا عِبَادِي إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيهَا لَكُمْ ثُمَّ أُوَفِّيكُمْ إِيَّاهَا فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا فَلْيَحْمَدِ اللَّهَ وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذَلِكَ فَلاَ يَلُومَنَّ إِلاَّ نَفْسَهُ قَالَ سَعِيدٌ كَانَ أَبُو إِدْرِيسَ الْخَوْلاَنِيُّ إِذَا حَدَّثَ بِهَذَا الْحَدِيثِ جَثَا عَلَى رُكْبَتَيْهِ[1]

روستي بنيادم او پيريان او د دوی ټولو بدئ ستاسو نه د يو سړي په زړهٔ کښې شي نو څما په بادشاهئ کښې به څهٔ کم نهٔ شي. اے څما بنديګانو کچرے ستاسو رومبی او روستي بنيادم او پيريانو ټول په يو ميدان کښې اودريږي او بيا څما نه غوښتل شروع کړي. او زهٔ هر يو ته چه څهٔ غواړي ورکوم. بيا به هم څما سره چه څهٔ دي هغه کم نهٔ شي مګر دومره لکه چه په درياب کښې ستن اومنډے او بيائے رااوباسے (نو څومره اوبهٔ چه په دے ستنے پورے د درياب نه کمے شوے دومره قدرے هم څما خزانه نهٔ کميږي. ځکه چه درياب هر څومره لوئے چه وي آخر محدود دے. او څما خزانه بے انتها ده. خو دا صرف مثال دے) اے څما بنديګانو دا خو هم ستاسو عملونه دي چه ستاسو دپاره ئے شماروم. بيا به تاسو ته ددغه اعمالو پوره بدله درکوم. نو کوم سړے چه غوره بدله اومومي نو پکار ده چه د الله تعالى شکر ادا کړي (چه د هغهٔ کته بيکاره نهٔ شوه) او څوك چه بده بدله اومومي نو نهٔ د ملامته کوي مګر خان خپل لره (چه دهٔ څنګه کړي وو هغسے بدله اوموندهٔ) سعيد وائي چه ابوادريس خولاني چه هر کله دا حديث به بيانوو نو د زنګونانو په سر به غوږ ځيدهٔ[1].

---

[1] په قرآن کښې آيت الکرسي او په حديثو کښې دا حديث د خدائے عالي جاه د بے پرواه عظمت او دبدبے په بيان کښې بے مثل دے. ددے حديث نه صفا وتلي دي چه د الله بادشا د بنديګانو په شان نهٔ ده بلکه الله پاك بے پرواه دے او هغهٔ ته د چا نه د رتئ برابر يره او خوف نشته دے څوك کهٔ هر څومره مقبول بنده وي او هر څومره عزت او درجے والاوي مګر د هغه په درګاه کښې علاوه د عاجزئ کولو نه نور څهٔ نهٔ شي کولے ټول بنديګان د هغهٔ غلامان دي او هغه يو شهنشاه بے پرواه دے. په دنيا کښې هم هغه خوره وي او څکوي او په آخرت کښې هم چه هغه غواړي نو بيرهٔ پورے باسي. دهغهٔ نه سوا نهٔ څوك مالك شته او نهٔ يو مددګار د هغهٔ بادشاهي او بے پرواهي په دے درجه باندے ده. چه کهٔ ټول جهان د پيغمبرانو پشان متقيان شي. نو د هغهٔ د حکومت څهٔ رونق نهٔ سوا کيږي. او کچرے ټول جهان د فرعون او هامان پشان بدکرداره شي. نو د هغهٔ بادشاهئ ته به څهٔ نقصان نهٔ وي. دا چه کوم په حديث کښې راغلي دي چه بنهٔ بنديګان به د الله په دربار کښې سفارش کوي مراد د هغے سفارش نه هم هغه سفارش دے چه غلام د بادشاه رضا اومومي او د هغهٔ په اجازت او حکم سره د چا ګنهګار سفارش کوي نهٔ هغه سفارش چه ددنيا د بادشاهانو سره په خواه کښې په زور اچولو سره کولے شي. يا په هغے

عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ بِهٰذَا الإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ مَرْوَانَ أَتَمُّهُمَا حَدِيثًا قَالَ أَبُو إِسْحٰقَ حَدَّثَنَا بِهٰذَا الْحَدِيثِ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ ابْنَا بِشْرٍ وَمُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالُوا حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ فَذَكَرُوا الْحَدِيثَ بِطُولِهِ

د سعید بن عبد العزیز نه په دے اسناد سره روایت دے مگر د مروان حدیث زیات مکمل دے. ابواسحٰق وئیلی دی مونږ ته دا حدیث د بشر خامنو حسن او حُسین او محمد بن یحییٰ بیان کړے دے. هغوی وائی چه مونږ ته ابومسلم حدیث بیان کړو. بیا هغوی اوږد حدیث بیان کړو.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِي عَنْ رَبِّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِنِّي حَرَّمْتُ عَلَى نَفْسِي الظُّلْمَ وَعَلَى عِبَادِي فَلَا تَظَالَمُوا وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِهِ وَحَدِيثُ أَبِي إِدْرِيسَ الَّذِي ذَكَرْنَاهُ أَتَمُّ مِنْ هٰذَا

د ابوذر نه روایت دے رسول الله ﷺ په حدیث قدسی کښې فرمائیلی دی چه الله تعالی فرمائی چه ما په خپل ځان د بندیګانو سره ناانصافی حرام کړے ده. مخکښې د پورتنی پشان پوره حدیث بیان کړو او د ادریس (راوی) حدیث دد ے نه زیات مکمل دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اتَّقُوا الظُّلْمَ فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ

د جابر بن عبد الله انصاری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ځان اوساتئ تاسو د ظلم نه ولے چه تیَرے دی د قیامت په ورځ (ظالم ته به لاره نه معلومیږی د قیامت په ورځ د تیَرے په وجه) او ځان اوساتئ تاسو د بخیلئ نه ولے چه بخیلئ ستاسو نه مخکښې خلقو لره تباه کړی دی. د بخیلئ په وجه سره (د مال طمع پیدا شوه) هغوی وینے توئ کړے او حرام ئے حلال کړل.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: بیشکه په ظلم سره تیَرے دی د قیامت په ورځ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: مسلمان د مسلمان رور دے نه به ظلم کوی په هغه باندے او نه به تباه

کښې د باشاه لحاظ وی چه کچرے دا سفارش قبول نه کړمه نو خپا به کارونو کښې به خلل راشی. معاذ الله په الله تعالی باندے د هیڅا زور نه چلیږی د هغه په حکم کښې د څه چون وچرا د چا مجال نشته دے. د چا په مخالفت یا خفګان د هغه د رتی برابر څه پرواه نشته دے. د تول جهان پیغمبران او ملائکے او اولیاء الله کچری بفرض محال د الله خلاف هم شی نو د یوے رتئ برابر د هغه په بادشاهئ کښې څه فرق نه شی راوستے. او هغه په یو دم کښې دغه تول فنا کولے او په خاورو کښې میلاوه ولے شی.

وَلَا يُسْلِمُهُ مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللّٰهُ فِي حَاجَتِهِ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللّٰهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

كوي هغهٔ لره. څوك چه دخپل رور حاجت پوره كوي نو الله به ددهٔ حاجت پوره كوي او څوك چه د يو مسلمان نه څهٔ مصيبت لرے كړي الله تعالى به د هغهٔ نه د قيامت په تكليفونو كښې يو تكليف لرے كړي او څوك چه د مسلمان پرده ساتي الله تعالى به د قيامت په ورځ د هغهٔ پرده اوساتي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ قَالُوا الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ فَقَالَ إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هٰذَا وَقَذَفَ هٰذَا وَأَكَلَ مَالَ هٰذَا وَسَفَكَ دَمَ هٰذَا وَضَرَبَ هٰذَا فَيُعْطَى هٰذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهٰذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ

د ابوهريرهٔ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل تاسو پيژنئ چه مفلس څوك دے؟ خلقو عرض اوكړو چه مفلس په مونږ كښې هغه دے چه د هغهٔ سره روپئ او اسباب نهٔ وي حضرت ﷺ اوفرمائيل مفلس به خما په اُمت كښې د قيامت په ورځ هغه وي چه هغه به سره د مانځهٔ او روژے او زكوٰة راشي. ليكن هغه به په دنيا كښې يو ته كنځل كړي وي او په بل به ئے د بدكارئ تهمت لګولے وي. د بل به ئے مال خوړلے وي او د بل به ئے وينه توئ كړے وي پس هغه خلقو ته به (يعني څوك چه دهٔ په دنيا كښې تنګ كړي وي) ددهٔ هغه نيك د هغهٔ د ګناه د ادا كولو نه مخكښې ختمے شوے. نو د هغه خلقو ګناهونه به په دهٔ باندے بار كړے شي او آخر دا چه هغه به جهنم ته اوغورځولے شي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقَ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ

د ابوهريرهٔ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي تاسو به خامخا د حقدارو حقوق ادا كوئ د قيامت په ورځ تر دے پورے چه د بے ښكرو بزے بدله به د ښكرو والا بزے نه اخستے شي (اګر چه په څناورو باندے عذاب او ثواب نشته خو بيا هم قصاص به ضرور وي)

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُمْلِي لِلظَّالِمِ فَإِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ ثُمَّ قَرَأَ وَكَذٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ

د ابوموسىٰ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي بيشكه الله مهلت وركوي ظالم لره (د هغهٔ واګے ډهيلا كوي دد ے دپاره چه ښه ظلم اوكړي او د عذاب مستحق شي) پس هر كله چه اونيسي هغهٔ لره نو نهٔ ئے پريږدي. دد ے نه پس حضرت ﷺ دا ايت اولوستو دغه شان ستا رب نيول كوي هر كله چه اونيسي ښارونو لره يعني هغه ښارونو لره چه

هغه ظلم کوي بيشکه نيول د هغه سخت دردناك دي

بَابُ نَصْرِ الْأَخِ ظَالِمًا أَوْمَظْلُومًا

باب : د خپل رور مدد کول که ظالم وي يا مظلوم په هر حال کښې د کولو نه څه مراد دے

عَنْ جَابِرٍ قَالَ اقْتَتَلَ غُلَامَانِ غُلَامٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَغُلَامٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَنَادَى الْمُهَاجِرُ أَوِ الْمُهَاجِرُونَ يَا لَلْمُهَاجِرِينَ وَنَادَى الْأَنْصَارِيُّ يَا لَلْأَنْصَارِ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا هٰذَا دَعْوَى أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللهِ إِلَّا أَنَّ غُلَامَيْنِ اقْتَتَلَا فَكَسَعَ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ قَالَ فَلَا بَأْسَ وَلْيَنْصُرِ الرَّجُلُ أَخَاهُ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا إِنْ كَانَ ظَالِمًا فَلْيَنْهَهُ فَإِنَّهُ لَهُ نَصْرٌ وَإِنْ كَانَ مَظْلُومًا فَلْيَنْصُرْهُ

د جابر نه روايت دے وائي چه دوو هلکانو جنګ کولو يو د مهاجرينو نه وو او بل د انصارو نه مهاجر خپلو مهاجرو ته آواز وکړو او انصاري خپلو انصارو ته رسول الله ﷺ بهر راووتو او اوئے فرمائيل دا خو د جاهليت پشان آوازونه دي (چه هر يو قوم د خپل نه مدد اخلي او د بل قوم سره جنګيږي په اسلام کښې تول مسلمانان يو دي) خلقو عرض اوکړو چه يا رسول الله (څه لويه مقدمه نه ده) دوه هلکان جنګ کوي هغه يو بل په کناتو باندے اووهو. حضرت ﷺ اوفرمائيل دا څه خبره نه ده (خما خيال وو چه څه لوئے فساد دے) پکار ده چه رور د خپل رور مدد اوکړي که هغه ظالم وي يا مظلوم. کچرے ظالم وي نو د هغه مدد دا دے چه هغه د ظلم نه منع کړي. او کچرے مظلوم وي نو د هغه مدد وکړي (او د ظالم د پنجے نه ئے آزاد کړي)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ فَكَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ يَا لَلْأَنْصَارِ وَقَالَ الْمُهَاجِرِيُّ يَا لَلْمُهَاجِرِينَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَالُ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ كَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ

د جابر نه روايت دے وائي چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په يو جهاد کښې شريك وو. نو يو مهاجر يو انصاري په کناتو باندے اووهو (په لاس سره يا په توره سره) انصاري آواز اوکړو اے انصارو رامنډے کړئ او مهاجر آواز اوکړو اے مهاجرينو رامنډے کړئ رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا خو د جاهليت پشان چغے دي خلقو عرض او کړو يا رسول الله يو مهاجر د يو انصاري کناتو له ګزار ورکړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه پريږدئ دا ګنده خبره ده د اخبر عبد الله بن أبي ته اورسيدهٔ (چه منافق وو) هغهٔ اووے مهاجرينو داسے اوکړل قسم په الله دے کچرے مونږ مدينے ته واپس شو نو په مونږ کښې د عزت والا

فَسَمِعَهَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيٍّ فَقَالَ قَدْ فَعَلُوهَا وَاللهِ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ قَالَ عُمَرُ دَعْنِي أَضْرِبُ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ دَعْهُ لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ أَصْحَابَهُ

سړے به ذلیل سړی لره د هغه خائے نه اوباسی (معاذ الله دغه منافق خپل خان ته عزتمند اووے او جناب رسول الله ﷺ ته ئے ذلیله اووے) حضرت عمرؓ اووے یا رسول الله ما ته دد ے منافق د څټ وهلو دپاره اجازت راکړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل پریږده اے عمره چه خلق دا اونه وائی چه محمدؐ خپلو صحابو لره قتلوی (ورنه هغه مردود ددغے قابل وو خو حضرت ﷺ د مصلحت په وجه هغهٔ له سزاء ورنهٔ کړه)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنَ الأَنْصَارِ فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَسَأَلَهُ الْقَوَدَ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ قَالَ ابْنُ مَنْصُورٍ فِي رِوَايَتِهِ عَمْرٌو قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا

د جابر بن عبداللهؓ نه روایت دے چه یو مهاجر یو انصاری لره په کناتی اووهۀ نو هغه د نبی ﷺ خواله راغے او قصاص ورکولو دپاره ئے اووے. نو نبی ﷺ اوفرمائیل پریږدوه هغهٔ لره. ځکه چه دا بدبو والا دے. ابن منصور وئیلی دی چه د عمرو په روایت کښ دی چه ما د جابرؓ نه واوریدل

بَابُ تَرَاحُمِ الْمُؤْمِنِينَ وَتَعَاطُفِهِمْ وَتَعَاضُدِهِمْ

باب: د مؤمنانو په خپل مینځ کښ د اتحاد او د یو بل مددګار کیدل

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مؤمن د مؤمن دپاره داسے دے لکه په اباد ئ کښ چه یو بے خښتے بله نیولے وی (دغه شان په هر مؤمن باندے لازم دی چه د بل مؤمن مددګار جوړ شی)[1].

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ

د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د مؤمنانو مثال د هغوی په دوستئ او شفقت کښ داسے دے لکه د یو بدن (یعنی ټول مؤمنان په جمع د یو بدن پشان دی) په بدن کښ چه هر کله یو اندام درد کوی نو ټول بدن په هغے کښ شریك وی. خوب نهٔ ورځی. تبه ورله راشی (دغه شان کهٔ په یو مؤمن باندے

[1] هر مؤمن له لازم دی چه د بل مؤمن مددګار شی اګر که هغه مؤمن هر څومره لرے وی او په بل ملك کښ اوسیږی. مګر د کومے پورے چه کیدے شی د هغهٔ مدد کول پکار دی. خصوصاً په داسے حالت کښ چه هر کله کافر هغه تنګوی. نو د یو مؤمن دپاره د ټولے دنیا مؤمنانو له جنګیدل پکار دی.

وَالْحُمّٰى

اٰفت راشي. خصوصاً چه هغه اٰفت کافرانو د طرفنه اورسي نو ټولو مؤمنانو لره بې ارامه کیدل پکار دي. او د هغې علاج کول پکار دي.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ

د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ د پورتنی حدیث پشان اوفرمائیل.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الْمُؤْمِنُونَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ إِنِ اشْتَكَى رَأْسُهُ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالْحُمَّى وَالسَّهَرِ

نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ اوفرمائیل. چه ټول مسلمانان د یو سړی پشان دی. کۀ چرے په سَر کښې درد وی د هغۀ نو ټول بدن په تبه او بې خوبئ کښې راګیر شی.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمُونَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ إِنِ اشْتَكَى عَيْنُهُ اشْتَكَى كُلُّهُ وَإِنِ اشْتَكَى رَأْسُهُ اشْتَكَى كُلُّهُ

د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے. رسول اللهﷺ اوفرمائیل ټول مسلمانان د یو سړی پشان دی. کچرے دۀ په سترګه کښې تکلیف وی نو ټول بدن بې آرامه وی او کچرے په سر کښې تکلیف وی نو هم ټول بدن متاثره وی.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ

نعمان بن بشیرؓ د نبیﷺ نه د پورتنی حدیث پشان حدیث روایت کړے دے.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ السِّبَابِ

باب: د کنځلو کولو ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْتَبَّانِ مَا قَالَا فَعَلَى الْبَادِئِ مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُومُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه دوه سړی یو بل ته کنځل وئیل کوی نو د دواړو ګناه به په هغه یو باندے وی چه اول شروع کړے وی (ظالم) تر هغې پورے چه مظلوم زیاتے اونۀ کړی[1].

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْعَفْوِ وَالتَّوَاضُعِ

باب: د عفو او د عاجزئ فضیلت

---

[1]: د دواړو ګناه به په هغه باندے وی کوم چه شروع اوکړی د کومے پورے چه مظلوم زیاتے اونۀ کړی یعني شروع کونکی ته د هغه د کنځلو نه زیات کنځل اونۀ کړی. او کۀ د هغۀ د کنځلو برابر جواب ورکوی نو جائز دی. بنصِ قرانی وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِ فَأُولَئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِنْ سَبِيلٍ. او وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُونَ. لیکن غوره داده چه صبر اوکړی او معاف ئے کړی. الله تعالٰی فرمائیلی دی او مسلمانانو ته په ناحقه کنځل کول حرام دی. او چا ته چه کنځل اوکړے شی هغه د هغې هومره جواب ورکولے شی په دے شرط چه کذب یا قذف یا د هغۀ مشرانو ته کنځل نۀ وی نو مباح دغه دی چه ظالم یا احمق یا جفار اووائی. او هر کله چه جواب ورکړے شو نو د هغۀ حق ختم شو او په شروع کونکی باندے د شروع کولو ګناه پاتے شوه. او د ځنو په نزد د هغې هم ګناه ختم شوه. (نوویؒ)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ وَمَا زَادَ اللهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ

د ابوهریرة نه روایت دے. په صدقه ورکولو سره مال نه کمیږی او کوم بنده چه معاف کوی الله تعالی د هغهٔ عزت سوا کوی او کوم بنده چه د الله تعالی دپاره عاجزی کوی الله تعالی د هغهٔ درجه اوچتوی.

بَابُ تَحْرِيمِ الْغِيبَةِ

باب : غیبت حرام دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ قَالُوا اللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ قِيلَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ قَالَ إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ

د ابوهریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی تاسو پوهه یئ چه غیبت څۀ دے خلقو اووے الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهه دے حضرت ﷺ اوفرمائیل غیبت دا دے چه تهٔ د خپل رور ذکر اوکړے په دے شان چه کۀ هغه (موجود شی) نو خفه به شی. خلقو اووے یا رسول الله! کچرے زمونږ په رور کښ هغه عیب موجود وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل. هم دغه به غیبت وی. او کچرے نۀ وی پکښ نو بهتان او دروغ جوړول دی[1].

بَابُ مَنْ سَتَرَ اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا الخ

باب : الله چه د چا په دنیا کښ پرده اوساتله په آخرت کښ به ئے هم ساتی

---

[1] نووی وائی غیبت په شرعی غرض سره صحیح دے او هغه په شپږ وجو سره کیږی. یو په ظلم. نو مظلوم له د ظالم غیبت کول د بادشاه یا قاضی په مخکښ صحیح دی. یعنی دا بیان کول چه فلانی په ما باندے ظلم کړے دے دویم د یو گناه او خلاف شرع کار د ختمولو دپاره بل ته فریاد کول او د چا چه پرے قدرت وی هغهٔ ته دا وئیل چه فلانے سړے داسے کار کوی دۀ لره دے نه قلار کړه. دریم د فتوے اخستلو دپاره. اگر چه غوره داده چه نوم وانخلی یا فرضی نوم بیان کړی. خو اصل نوم بیانول هم صحیح دی. څکه چه هندے د خپل خاوند ابوسفیان نوم واخستو او د رسول الله ﷺ نه ئے د مسئلے تپوس کړے وو چه هغه خپل دے. څلورم د مسلمانانو د بچ کولو دپاره شر نه لکه د حدیث د راویانو او گواهانو جرح او د مصنفینو او دا په اجماع سره جائز دی بلکه واجب دی د شریعت د حفاظت دپاره دغه شان د نکاح په مشوره کښ عیب بیانول یا چه یو سړے څۀ عیب دار څیز په قیمت د بے عیبه سره اخلی یا غل غلام یا زانی غلام اخستل نو د اخستونکی د خیر خواهئ دپاره په دغے کښ داخل دی د چا عهده دار او حاحب حکومت عیب بیانول د حاکم اعلی په مخکښ دے دپاره چه هغه پرے دهوکه او نۀ خوری پنځم دا چه هغه سړے علانیه فسق کوی. لکه علانیه شراب څښی یا بدعت کوی د خلقو نه جرمانه اخلی ظلم کوی نو کومه خبره چه په ښکاره کوی هغے لره بیانول نۀ نورو خبرو لره. شپږم دا چه هغه په یو لقب سره مشهور شوے وی مثلا اعمش اعرج، ازرق قصیر اعمٰی اقطع وغیره سره نو د تعریف په غرض دے لقب بیانول صحیح دی. نۀ د توهین په غرض او کۀ په بله طریقه تعریف کوی نو غوره ده. (نووی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَا يَسْتُرُ اللّٰهُ عَلَى عَبْدٍ فِي الدُّنْيَا إِلَّا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي څوك چه په دنيا كښې د يو بنده عيب پټوى الله به په آخرت كښې د هغهٔ عيب پټ كړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا فِي الدُّنْيَا إِلَّا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څوك بنده په دنيا كښې د يو بنده پرده اوساتى الله تعالى به په قيامت كښې دده پرده اوساتى.

بَابُ مُدَارَاةِ مَنْ يُتَّقَى فُحْشُهُ

باب: د چا نه چه د بدئ ويره وى، د هغهٔ په ظاهره خاطرداري كول

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ائْذَنُوا لَهُ فَلَبِئْسَ ابْنُ الْعَشِيرَةِ أَوْ بِئْسَ رَجُلُ الْعَشِيرَةِ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ أَلَانَ لَهُ الْقَوْلَ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قُلْتَ لَهُ الَّذِي قُلْتَ ثُمَّ أَلَنْتَ لَهُ الْقَوْلَ قَالَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ شَرَّ النَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ وَدَعَهُ أَوْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ فُحْشِهِ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے ؓ نه روايت دے چه يو سړي د رسول الله ﷺ نه دننه راتلو اجازت اوغوښتو. حضرت ﷺ اوفرمائيل اجازت وركړئ دهٔ لره دا ډير بد سړے دے په خپل خاندان كښې. هر كله چه هغه دننه راغے نو رسول الله ﷺ د هغهٔ سره په نرمئ خبرے اوكړے. حضرت عائشے ؓ اووے يا رسول الله ﷺ تاسو هغهٔ ته داسے فرمائيلي وو او بيا د هغهٔ سره په نرمئ خبرے اوكړے. حضرت ﷺ اوفرمائيل اے عائشے بد سړے د الله په نز به په قيامت كښې هغه وى چه هغهٔ لره خلق رخصت كړي يائے پريږدى د هغهٔ د بدگمانئ په وجه سره[1].

عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ مَعْنَاهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ بِئْسَ أَخُو الْقَوْمِ وَابْنُ الْعَشِيرَةِ

د ابن منكدر نه په دے اسناد سره د پورتنى حديث يو شان معنى روايت دے. مگر دده الفاظ دادى دے د بد قوم رور او د خاندان ځوئے دے

---

[1] نووي ؒ وائى دا سړے عيينه بن حصن وو. دغه وخته پورے مسلمان شوے نهٔ وو اگر چه د اسلام دعوه ئے كوله حضرت ﷺ د هغهٔ حال بيان كړو ددے دپاره چه نور مسلمانانو ته دهوكه ورنه كړي. او دغسے اوشوه چه هغه سړے د حضرت ﷺ نه پس مرتد شو او په قيد كښې دحضرت ابوبكر صديق خواله راغے او هغوى د هغهٔ سره نرمي اوكړه د تاليف قلب دپاره ددے حديث نه دا معلومه شوه چه د چا د بدئ نه يره وى نو په ظاهر كښې د هغهٔ خاطر كول منع نهٔ دي او د فاسق غيبت صحيح دے. او په حديث كښې دا نشته چه حضرت د هغهٔ تعريف اوكړو صرف نرمي ئے اوكړه چه اراده ئے د مصلحت وه (نووي)

عَنْ جَرِيرٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ

د جریر نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ چه هغوی فرمائیل چه کوم سړے د نرم خوئی نه محروم شو هغه د نیکئ نه محروم شو.

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حُرِمَ الرِّفْقَ حُرِمَ الْخَيْرَ أَوْ مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ

د جریر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کوم سړے چه د نرمئ نه محرومه اوساتلے شو هغه د نیکئ نه محرومه اوساتلے شو. یا اوفرمائیل کوم سړے چه د نرمئ نه محروم کړے شی هغه به د نیکئ نه محروم کړے شی.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ وَمَا لَا يُعْطِي عَلَى مَا سِوَاهُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائیل اے عائشے! الله نرمی (او خوش خلقی) غوره کوی. او پخپله هم نرم دے او ورکوی په نرمئ سره هغه څۀ چه نۀ ئے ورکوی په سختئ سره. او نۀ په څۀ څیز باندے[1].

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هر کله چه په چا کښې نرمی وی نو د هغۀ زینت جوړیږی. او هر کله چه ترے نرمی اوځی نو عیب ترے جوړ شی.

عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ رَكِبَتْ عَائِشَةُ بَعِيرًا فَكَانَتْ فِيهِ صُعُوبَةٌ فَجَعَلَتْ تُرَدِّدُهُ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِهِ

د مقدام بن شریح نه روایت دے په دے اسناد سره او په دے کښې دا زیاته ده چه حضرت عائشه صدیقه په یو اوښ سوره شوه هغه را اوګرځیدو پس شروع شوه چه واپس کول ئے پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل تا لره نرمی کول پکار دی.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ وَامْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ عَلَى نَاقَةٍ فَضَجِرَتْ

د عمران بن حصین نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په یو سفر کښې وو او یوه انصاری ښځه په یوه اوښه باندے سوره وه. هغه اوښ بے قراره شو نو ښځے پرے ورته خیرے اوکړے. رسول الله ﷺ

[1] نرم ترجمه ده د رفیق او رفیق په دے حدیث کښې په الله تعالی باندے راغلی دے. او کوم نوم چه په حدیث یا قران کښې په الله تعالی باندے وارد دے د هغې اطلاق صحیح دے او د خپل زړۀ نه د یو نوم اطلاق صحیح نۀ دے دغه صحیح دے.

فَلَعَنَتْهَا فَسَمِعَ ذَلِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ خُذُوا مَا عَلَيْهَا وَدَعُوهَا فَإِنَّهَا مَلْعُونَةٌ قَالَ عِمْرَانُ فَكَأَنِّي أَرَاهَا الْآنَ تَمْشِي فِي النَّاسِ مَا يَعْرِضُ لَهَا أَحَدٌ

واوریدو او اوئے فرمائیل په دے اوښه باندے چه څۀ دی هغه راکوز کړئ او دا پریږدئ ځکه دا مَلعونه ده. عمران وائی زۀ هغه اوښے ته د هغه وخت نه ګورم چه هغه په خلقو کښې ګرځیدله او هیچا په هغې څۀ غرض نۀ لرلو.

عَنْ أَيُّوبَ بِإِسْنَادِ إِسْمَعِيلَ نَحْوَ حَدِيثِهِ إِلَّا أَنَّ فِي حَدِيثِ حَمَّادٍ قَالَ عِمْرَانُ فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهَا نَاقَةً وَرْقَاءَ وَفِي حَدِيثِ الثَّقَفِيِّ فَقَالَ خُذُوا مَا عَلَيْهَا وَأَعْرُوهَا فَإِنَّهَا مَلْعُونَةٌ

د ایوب نه د اسماعیل په اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے. او د حماد په حدیث کښې دی چه عمران اووے لکه زۀ دے اوښے ته ګورم. هغه خړ رنګے اوښه وه. حضرت ﷺ اوفرمائیل څۀ چه په دے باندے دی هغه ترے کوز کړئ او دا لغړه کړئ ځکه چه دا اوښه لعنتی شوے ده.

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ بَيْنَمَا جَارِيَةٌ عَلَى نَاقَةٍ عَلَيْهَا بَعْضُ مَتَاعِ الْقَوْمِ إِذْ بَصُرَتْ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَضَايَقَ بِهِمُ الْجَبَلُ فَقَالَتْ حَلْ اللَّهُمَّ الْعَنْهَا قَالَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُصَاحِبْنَا نَاقَةٌ عَلَيْهَا لَعْنَةٌ

د ابوبرزه اسلمی رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه یو ځل یوه ماشومه په اوښه باندے سوره وه چه په هغې باندے د خلقو اسباب هم وو. ناڅاپه هغې رسول الله ﷺ اولیدو او په لاره کښې د غر لار تنګه وه هغه جینۍ اووے حَلْ (دا آواز دے د اوښ د شړلو) یا الله لعنت کړه په دے. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل زمونږ سره د هغه اوښه نۀ وی چه په هغې باندے لعنت دے.

عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ الْمُعْتَمِرِ لَا أَيْمُ اللهِ لَا تُصَاحِبْنَا رَاحِلَةٌ عَلَيْهَا لَعْنَةٌ مِنَ اللهِ أَوْ كَمَا قَالَ

د سلیمان تیمی نه په دغه اسناد سره روایت دے او د معتمر په حدیث کښې دی چه په خدائے قسم زمونږ سره د هغه اوښه نۀ وی چه پرے لعنت دے د الله د طرف نه[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْبَغِي لِصِدِّيقٍ أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نۀ ښائیږی صدیق لره چه لعنت کولو والا جوړ شی[2].

---

[1] دا حضرت ﷺ د زجر په واسطه اوفرمائیل دد ے دپاره چه خلق د لعنت کولو عادت پریږدی. معلومه شوه چه په خناور باندے هم لعنت کول صحیح نۀ دی. (تحفة الاخیار)

[2] ابوبکر صدیق یو ځل په خپل غلام باندے لعنت اوکړو نو رسول الله ﷺ دا حدیث اوفرمائیلو صدیق هغه ولی کامل ته وئیلے شی چه دهغۀ په زړۀ کښې داسے نور وی چه بے د معجزے طلب کوول او بے د معجزے لیدلو نه ایمان راوړی لکه چه مشهوره ده چه حضرت

عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د علاء بن عبد الرّحمٰن نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ أَنَّ عَبْدَ الْمَلِكِ بْنَ مَرْوَانَ بَعَثَ إِلَى أُمِّ الدَّرْدَاءِ بِأَنْجَادٍ مِنْ عِنْدِهِ فَلَمَّا أَنْ كَانَ ذَاتَ لَيْلَةٍ قَامَ عَبْدُ الْمَلِكِ مِنَ اللَّيْلِ فَدَعَا خَادِمَهُ فَكَأَنَّهُ أَبْطَأَ عَلَيْهِ فَلَعَنَهُ فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَتْ لَهُ أُمُّ الدَّرْدَاءِ سَمِعْتُكَ اللَّيْلَةَ لَعَنْتَ خَادِمَكَ حِينَ دَعَوْتَهُ فَقَالَتْ سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَكُونُ اللَّعَّانُونَ شُفَعَاءَ وَلَا شُهَدَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د زید بن اسلم نه روایت دے چه عبد الملك بن مروان أم الدّرداء له د کور د آرائش سامان د خپل طرفنه اولیږلو یوه شپه عبد الملك پاځیدو. او هغهٔ خادم رااوغوښتو. هغه خادم په راتلو کښې ناوخته کړو. نو عبد الملك په هغه باندے لعنت اووے هر کله چه سحر شو نو ام درداء عبد الملك ته اووے. ما اوریدلی دی چه د شپے تا په خپل خادم باندے د رابللو په وخت لعنت وئیلے دے. او ما اوریدلی دی د ابوالدرداء نه هغه ویلی وو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم خلق چه لعنت کوی هغه به د قیامت په ورځ د هیچا شفاعت نهٔ کوی او نهٔ به گواه وی[1].

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِ مَعْنَى حَدِيثِ حَفْصِ بْنِ مَيْسَرَةَ

د زید بن اسلم نه په دے اسناد سره د حفص بن میسره د حدیث پشان د یو معنے روایت دے.

عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّعَّانِينَ لَا يَكُونُونَ شُهَدَاءَ وَلَا شُفَعَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د ابودرداء رضی الله عنه نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغوی به فرمائیل چه لعنت کونکی به نهٔ گواه جوړیږی نهٔ سفارش کونکی د قیامت په ورځ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ عَلَى الْمُشْرِكِينَ قَالَ إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا وَإِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه خلقو اووے یا رسول الله ﷺ خیرے اوکړئ مشرکانو ته. حضرت ﷺ اوفرمائیل زهٔ دد دے دپاره نهٔ یم رالیږلے شوے چه په خلقو باندے دلعنت اوکړم بلکه زهٔ الله د

ابوبکر صدیق رضی الله عنه د حضرت ﷺ نه څهٔ معجزه او نهٔ غوښته او نهٔ ئے څهٔ دلیل اولټولو صرف د خپل زړهٔ په نور سره ئے حضرت ﷺ اوپیژندو او ایمان ئے پرے راوړو، روستو د پیغمبرئ د مرتبے نه د ولایت په درجو کښې د صدیقی برابر څوك نشته (تحفة الاخیار)

[1] کوم خلق چه لعنت کوی هغه به د قیامت په ورځ د هیچا شفاعت نهٔ کوی او نهٔ به گواه وی ځکه چه د لعنت معنی دهٔ لرے کیدل د الله د رحمت نه او دا خیرے د مؤمنانو د اخلاقو نه لرے ده او په خپلو کښې د یو بل جانی دوستان پس چا چه پخپل مسلمان رور باندے لعنت اووے نو انتها دشمنی ئے اوکړه د هغهٔ سره او هم په دغه واسطه په صحیح حدیث کښې دی چه په مؤمن باندے لعنت کول لکه چه هغهٔ لره قتلول دی پس دا سے سړے چه هغه د مؤمنانو سره دا سے دشمنی ساتی. د قیامت په ورځ د هغوی شفیع څنگه کیدے شی

رحمت یو سبب رالیږلے یم ، نو خما د راتلو سره به رحمت زیات وی په خلقو باندے لعنت الله فرمائی وَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِیْنَ ،

بَابُ مَنْ لَعَنَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ هُوَ أَهْلًا لَهَا فَهِيَ لَهُ زَكَاةٌ وَأَجْرٌ

باب : په چا چه حضرت ﷺ لعنت کړے دے او هغه د لعنت لائق نه وو نو دا به د هغهٔ دپاره رحمت وی

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَانِ فَكَلَّمَاهُ بِشَيْءٍ لَا أَدْرِي مَا هُوَ فَأَغْضَبَاهُ فَلَعَنَهُمَا وَسَبَّهُمَا فَلَمَّا خَرَجَا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ أَصَابَ مِنَ الْخَيْرِ شَيْئًا مَا أَصَابَهُ هٰذَانِ قَالَ وَمَا ذَاكِ قَالَتْ قُلْتُ لَعَنْتَهُمَا وَسَبَبْتَهُمَا قَالَ أَوَ مَا عَلِمْتِ مَا شَارَطْتُ عَلَيْهِ رَبِّي قُلْتُ اللّٰهُمَّ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ فَأَيُّ الْمُسْلِمِينَ لَعَنْتُهُ أَوْ سَبَبْتُهُ فَاجْعَلْهُ لَهُ زَكَاةً وَأَجْرًا

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه دوه سړی د رسول الله ﷺ خواله راغلل معلومه نهٔ ده چه د حضرت ﷺ سره ئے څهٔ خبرے اوکړے. حضرت ﷺ غصّه شو او په هغے دواړو ئے لعنت اووے او بد ئے اووے هغوی ته هر کله چه هغه بهر اوتل نو ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ دے دواړو ته به څهٔ فائده نهٔ وی حضرت ﷺ اوفرمائیل تا ته معلومه نهٔ ده چه ما د خپل پروردګار سره څهٔ شرط کړے دے. ما عرض کړے دے چه اے خما مالکه زهٔ بنده یم. نو زهٔ چه په کوم مسلمان باندے لعنت اوکړم یا هغهٔ ته بد اووایم نو هغهٔ لره پاک کړه او ثواب ورکړه[1].

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ جَرِيرٍ وَ قَالَ فِي حَدِيثِ عِيسَى فَخَلَوَا بِهِ فَسَبَّهُمَا وَلَعَنَهُمَا وَأَخْرَجَهُمَا

د اعمش نه په دے اسناد سره د جریر د حدیث پشان روایت دے او د عیسیٰ «راوی» په حدیث کښں دی چه هغوی خانله شو د حضرت ﷺ سره حضرت ﷺ هغوی ته بد اووے او په هغوی ئے لعنت اووے او هغوی ئے اوویستل.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ سَبَبْتُهُ أَوْ لَعَنْتُهُ أَوْ

د ابوهریرة ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل یا اله زهٔ بنده وم نو کوم مسلمان ته چه زهٔ بد اووایم یا پرے لعنت اوکړم یا ئے اووهم نو هغهٔ لره پاک کړه او رحمت پرے

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه چه کوم خاصیتونه او لوازم بشری دی هغه په حضرت ﷺ کښں هم موجود وو لکه غصه وغیره. خو حضرت به په غصّه کښں سوا د حق نه نور څهٔ نه فرمائیلو او دا د حضرت د شفقت کمال دے پخپل اُمت باندے چه لعنت لره ئے هم د هغوی په حق کښں برکت کړو

جَلَدْتُهُ فَاجْعَلْهَا لَهُ زَكَاةً وَرَحْمَةً

او كړه[1]

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ إِلاَّ أَنَّ فِيهِ زَكَاةً وَأَجْرًا

جابرؓ د نبی ﷺ نه هم دغسې حديث روايت کړے دے. مګر په دے کښې د رَحْمَةً په ځائے اَجْرًا دے.

عَنِ الأَعْمَشِ بِإِسْنَادِ عَبْدِ اللهِ بْنِ نُمَيْرٍ مِثْلَ حَدِيثِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ عِيسَى جَعَلَ وَأَجْرًا فِي حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ وَجَعَلَ وَرَحْمَةً فِي حَدِيثِ جَابِرٍ

د اعمش نه د عبد الله بن زبير په اسناد سره د پورتنی حديث پشان دے. مګر د عيسىٰ په حديث کښې لفظ اجْعَلْ او اَجْرًا دے او د ابوهريرهؓ په حديث کښې لفظ وَاجْعَلْ دے او د جابرؓ په حديث کښې رَحْمَةً دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَتَّخِذُ عِنْدَكَ عَهْدًا لَنْ تُخْلِفَنِيهِ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ فَأَيُّ الْمُؤْمِنِينَ آذَيْتُهُ شَتَمْتُهُ لَعَنْتُهُ جَلَدْتُهُ فَاجْعَلْهَا لَهُ صَلاَةً وَزَكَاةً وَقُرْبَةً تُقَرِّبُهُ بِهَا إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی يا الله زهٔ ستا نه وعده اخلمه چه د هغې ته خلاف نهٔ کوے. زهٔ بنده يم نو چه کوم مؤمن ته تکليف اورسوم کنځل ورته اوکړم يا پرے لعنت اوکړم يائے اووهم نو د هغهٔ دپاره ئے رحمت کړه او پاکی او نزديکت د خپل ځان سره د قيامت په ورځ.

عَنْ أَبِي الزِّنَادِ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ إِلاَّ أَنَّهُ قَالَ أَوْ جَلَدُّهُ قَالَ أَبُو الزِّنَادِ وَهِيَ لُغَةُ أَبِي هُرَيْرَةَ وَإِنَّمَا هِيَ جَلَدْتُهُ

د ابوالزناد نه د په دے اسناد سره دهغسې روايت دے مګر په دے کښې لفظ جَلَدُّهُ. ابوالزناد وئيلی دی چه دا د ابوهريرهؓ ژبه ده. اصل لفظ جَلَدْتُهُ دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ

ابوهريرهؓ د نبی ﷺ نه د پورتنی حديث پشان روايت بيان کړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنَّمَا مُحَمَّدٌ بَشَرٌ يَغْضَبُ كَمَا يَغْضَبُ الْبَشَرُ وَإِنِّي قَدْ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے هغه وائی ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه رسول الله ﷺ فرمائيل چه زهٔ محمد يو بشر يم، ماله هم غصه راځی، څنګه چه يو انسان ته غصه راځی. نو اے الله زهٔ ستا سره دا

---

[1] دا د مسلمان سره خاص ده. مګر د کافر او منافق دا حکم نهٔ دے. د هغوی دپاره د حضرتؐ لعنت رحمت نهٔ دے. او لعنت يا کنځل په مسلمان باندے د ظاهر حال په سبب دے ولے چه د زړهٔ په حال الله ښهٔ خبر دے. يا عادتاً دی لکه چه وائی۔ تَرِبَتْ يَمِيْنُكَ يا حلقي يا: لاَ كَبِرَتْ سِنُّكَ يا لاَ أَشْبَعَ اللهُ بَطْنَهُ لکه چه د معاويه په حديث کښې دی. څکه چه دا دے کلماتو نه حقيقتاً خيرے نهٔ منظور يری. (نووي)

اتَّخَذْتُ عِنْدَكَ عَهْدًا لَنْ تُخْلِفَنِيهِ فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ آذَيْتُهُ أَوْ سَبَبْتُهُ أَوْ جَلَدْتُهُ فَاجْعَلْهَا لَهُ كَفَّارَةً وَقُرْبَةً تُقَرِّبُهُ بِهَا إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُمَّ فَأَيُّمَا عَبْدٍ مُؤْمِنٍ سَبَبْتُهُ فَاجْعَلْ ذَلِكَ لَهُ قُرْبَةً إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي اتَّخَذْتُ عِنْدَكَ عَهْدًا لَنْ تُخْلِفَنِيهِ فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَبَبْتُهُ أَوْ جَلَدْتُهُ فَاجْعَلْ ذَلِكَ كَفَّارَةً لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ وَإِنِّي اشْتَرَطْتُ عَلَى رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ أَيُّ عَبْدٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ سَبَبْتُهُ أَوْ شَتَمْتُهُ أَنْ يَكُونَ ذَلِكَ لَهُ زَكَاةً وَأَجْرًا

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَتْ عِنْدَ أُمِّ سُلَيْمٍ يَتِيمَةٌ وَهِيَ أُمُّ أَنَسٍ فَرَأَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الْيَتِيمَةَ فَقَالَ آنْتِ هِيَهْ لَقَدْ كَبِرْتِ لَا كَبِرَ سِنُّكِ فَرَجَعَتِ الْيَتِيمَةُ إِلَى أُمِّ سُلَيْمٍ تَبْكِي فَقَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ مَا لَكِ يَا بُنَيَّةُ قَالَتِ الْجَارِيَةُ دَعَا عَلَيَّ نَبِيُّ اللَّهِ ﷺ أَنْ لَا يَكْبَرَ سِنِّي فَالْآنَ لَا يَكْبَرُ سِنِّي أَبَدًا أَوْ قَالَتْ قَرْنِي فَخَرَجَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ مُسْتَعْجِلَةً

عهد کوم چه کوم مسلمان ته زهٔ تکلیف ورکړم یا هغهٔ ته کنځل اوکړم یا هغه اووهم نو دا خیزونو ته ددهٔ د ګناهونو د معافی او د خپل نزدیکت ذریعه جوړه کړے د قیامت په ورځ.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ به فرمائیلو یا الله کوم مسلمان ته چه زهٔ بد اووایم نو هغهٔ ته نږدے والے ورکړه پخپله خوا کښ د قیامت په ورځ.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیل ئے یا الله ما ستا نه وعده اخستے ده تهٔ د هغے خلاف خما سره نهٔ کوے. کوم مؤمن ته چه زهٔ بد اووایم یا ئے اووهم نو تهٔ هغے لره کفاره کړے د هغهٔ د ګناهونو د قیامت په ورځ.

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے. ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی حضرتﷺ فرمائیل چه زهٔ یو انسان یم او ما د خپل پروردګار نه دا شرط کړے اخستے دے چه زهٔ چا مسلمان ته بد اووایم یا کنځل اوکړم نو دا د هغهٔ د پاکئ او د ثواب ذریعه دے وی.

دابن جریج نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

د حضرت انسؓ نه روایت دے چه د ام سلیمؓ سره یوه یتیمه جینئ وه چه هغے ته به ئے ام انس وئیل. رسول اللهﷺ چه هغه جینئ اولیده نو اوئے فرمائیل تهٔ ئے هغه جینئ ته لویه شوے ئے الله دِ اوکړی چه ستا عمر زیات نهٔ شی. هغه جینئ چه دا واوریدل په ژړا د ام سلیمؓ خواله لاړه. ام سلیمؓ اووے لورے پتا څهٔ اوشو. هغے اووے ما ته بد دُعا اوکړه رسول اللهﷺ چه خما عمر د ډیر نهٔ وی. اوس به زهٔ چرته نهٔ لوئیږم. یائے داسے

تلوث خمارها حتى لقيت رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال لها رسول الله ﷺ مالك يا أم سليم فقالت يا نبي الله أدعوت على يتيمتي قال وما ذاك يا أم سليم قالت زعمت أنك دعوت أن لا يكبر سنها ولا يكبر قرنها قال فضحك رسول الله ﷺ ثم قال يا أم سليم أما تعلمين أن شرطي على ربي أني اشترطت على ربي فقلت إنما أنا بشر أرضى كما يرضى البشر وأغضب كما يغضب البشر فأيما أحد دعوت عليه من أمتي بدعوة ليس لها بأهل أن يجعلها له طهورا وزكاة وقربة يقربه بها منه يوم القيامة و قال أبو معن يتيمة بالتصغير في المواضع الثلاثة من الحديث

اوفرمائیل ستا همزولی د لوئے نهٔ وی. دا دے په اوریدو ام سلیمؓ په تادئ ځادر پسر کړو او اوتهٔ د رسول الله ﷺ سره میلاؤ شوه. حضرت ﷺ اوفرمائیل اُم سلیم څهٔ دی؟ هغې اووے اے د الله نبیؐ تاسو څما یتیمې جینئ ته خیرے اوکړے. حضرت تپوس اوکړو څهٔ خیرے؟ ام سلیم اووے هغه وائی چه تاسو فرمائیلی دی چه دا دے یا د هغې د همزولی عمر دِ اوږد نهٔ وی. دا دے په اوریدو حضرتؐ مسکے شو او اوئے فرمائیل اے ام سلیمؓ تهٔ خبر نهٔ ئے چه ما شرط کړے دے د خپل پروردګار سره. څما شرط دا دے چه ما عرض اوکړو اے پروردګاره زهٔ یو بنده یم لکه څنګه چه بنیادم خوشحالیږی او غصه کیږی. نو د چا دپاره چه زهٔ په خپل امت کښې داسے دُعا اوغوارم د کومې چه هغه لائق نهٔ وی نو د هغهٔ دپاره پاکی اوکړه پاکوالے او نزدیکت خپل د قیامت په ورځ

عن ابن عباس قال كنت ألعب مع الصبيان فجاء رسول الله صلى الله عليه وسلم فتواريت خلف باب قال فجاء فحطأني حطأة وقال اذهب وادع لي معاوية قال فجئت فقلت هو يأكل قال ثم قال لي اذهب فادع لي معاوية قال فجئت فقلت هو يأكل فقال لا أشبع الله بطنه قال ابن المثنى قلت لأمية ما حطأني قال قفدني قفدة

د ابن عباسؓ نه روایت دے وائی چه ما د ماشومانو سره لوبې کولې چه په دے کښې رسول الله ﷺ تشریف راوړو نو زهٔ د یوے دروازے شاته غلے اودریدم. حضرت ﷺ زهٔ په سپیره اووهلم (د مینے نه) او راته ئے اوفرمائیل لاړ شه معاویه ماله رولهٔ. زهٔ لاړم او بیا واپس راغلم او ما اووے هغه ډوډئ خوری. حضرت ﷺ بیا اوفرمائیل لاړ شه او معاویه ماله راولهٔ. زهٔ بیا واپس راغلم او اومې وئیل چه هغه ډوډئ خوری. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله د د هغهٔ ګیډه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ كُنْتُ أَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَاخْتَبَأْتُ مِنْهُ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ

ابن عباس رضی الله عنه وئیلی دی چه ما د معشومانو سره لوبے کولے چه رسول الله ﷺ تشریف راوړو. نو زۀ پټ شوم مخکښې د پورتنی حدیث پشان بیان کړو د که نۀ کړی[1].

بَابُ ذَمِّ ذِي الْوَجْهَيْنِ

باب : د دواؤ خلو والا مذمت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مِنْ شَرِّ النَّاسِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَهَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه بیشکه ډیر بد په خلقو کښې هغه کس دے چه هغه دوه خُلے لری. راتله کوی د دے خلقو خواله په یوه خلۀ سره او ورتلل کوی د هغه خلقو خواله په بلے خلے سره[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ شَرَّ النَّاسِ ذُو الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَهَؤُلَاءِ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی حضرت ﷺ فرمائیل چه په خلقو کښې د ټولو نه زیات بَد د دواؤ مخونو والا دے. چه د یو خواله په یوه مخ ځی او د بل خواله په بل

---

[1] دا حضرت ﷺ عادتًا اوفرمائیل لکه چه پورته ذکر شو یا په حقیقت کښې د عقوبت دپاره ولے چه هغوی په راتلو کښې ناوخته کړو او پکار خو دا وه چه غله نے پریخودے وے او راغلے وے. ولے چه په قرانِ کښې صفا موجود دی چه يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ او امام مسلم رحمه الله دا خیال کړے دے چه مُعاویه د خیرو لائق نه وو. په دے واسطه نے دا حدیث د هغۀ په باب کښې راوړو. او ځنو دے لره په مناقب معاویه کښې ذکر کړے دے. ځکه چه په حقیقت کښې دا د هغوی دپاره دُعا شوه. په موجب د حضرت ﷺ د فرمائیلو چه زۀ د چا ته خیرے اوکړم نو ته نے د هغۀ دپاره نژدیکت او اجر کړه. امام نسائی د خوارجو د لاس نه په دے حدیث باندے وهل خوړلی دی. هر کله چه هغوی په منبر باندے اووے چه د معاویه د فضیلت په باره کښې یو حدیث صحیح نۀ دے سوا د دے حدیث نه

[2] د دے حدیث شرح پورته تیره شوے ده مراد هغه سړے دے چه هغه منافق وی. هر چرته چه لاړ شی د هغه خائے د خلقو په شان خبرے کوی. هر یو طرفته میلاؤ وی. شرعًا او اخلاقًا دا صفت ډیر زیات مذمون دے. او د انسانیت مقتضی راست بازی او دیانت داری ده. دا صفت د دے بالکل بر خلاف دے. په دے زمانه کښې ځنے بے وقوفه دنیادار دے صفت لره هنر او چالاکی گنړی. حالانکه کچرے غور اوکړے شی نو سراسر حماقت دے او بیوقوفی ده. ځکه چه د خوشامدی بنیادم هر کله چه حال معلومړی نو ذلیله کیږی او د هغۀ اعتبار بالکل نۀ پاتے کیږی. او یو فریق هم په هغه بهروسه نۀ کوی او هره فرقه دا وائی چه هغه خو هر درے اورکابی مذهب دے د هغه څۀ اعتبار دے کوم اخلاق چه پیغمبرانو او روښو حکیمانو د مُدو په غور کولو سره د غتو تجربو نه پس قائم کړی دی. هغه صحیح دی او په هغے باندے په چلیدو کښې عزت او غوره والے دے. او ددغه دنیا دارو بے وقوفانو په خبرو باندے عمل کول سراسر کم عقل توب دے. فقط

بِوَجْهٍ

مخ خی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجِدُونَ مِنْ شَرِّ النَّاسِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَهَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. تاسو په خلقو كښې به د تولو نه بد دوۀ مخونو والا اوموم‍ئ: چه دے خلقو خواله به په يو مخ راځي او هغه خلقو خواله به په بل مخ سره ځي.

بَابُ تَحْرِيمِ الْكَذِبِ وَبَيَانِ مَا يُبَاحُ مِنْهُ

باب: دروغ حرام دي ليكن په كوم ځائے صحيح دي د هغے بيان

عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّ أُمَّهُ أُمَّ كُلْثُومٍ بِنْتَ عُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلِ اللَّاتِي بَايَعْنَ النَّبِيَّ ﷺ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَهُوَ يَقُولُ لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُولُ خَيْرًا وَيَنْمِي خَيْرًا قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَلَمْ أَسْمَعْ يُرَخَّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ كَذِبٌ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ الْحَرْبُ وَالْإِصْلَاحُ بَيْنَ النَّاسِ وَحَدِيثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَحَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا

د حميد بن عبد الرحمن نه روايت دے چه هغوی د خپلے مور أم كلثوم بنت عقبه بن ابی معيط نه اوريدلي دي چه د مهاجرات اول نه وه چه هغوی بيعت كړے وو د رسو الله ﷺ نه. هغوی وائی ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلي وو دروغژن هغه نۀ دے چه هغه د خلقو په مينځ كښې د صلحے دپاره خبره كوی يا جوړ وی. ابن شهاب وائی ما نۀ دی اوريدلی چه چرته په دروغو كښې رخصت وركړے شوے وی مګر په درے ځايونو كښې. يو خو په جنګ كښې دويم په خلقو كښې د صلح كولو دپاره. دريم خاوند لره د ښځے سره او ښځے لره د خاوند سره[1].

---

[1] قاضی عياض وئيلي دي په دے صورتونو كښې په اتفاق دروغ وئيل جائز دي. او دد ے نه علاوه هم څنو مطلقًا د مصلحت دپاره جائز كړي دي. او دائے وئيلي دي چه كذب مذموم هغه دی چه په هغے سره ضرر رسولے شی او دليل د هغوی د ابرهيم عليه السلام دا قول دے بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ . إِنِّي سَقِيمٌ - إِنَّهَا أُخْتِي او د منادی يوسف دا قول إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ او هغوی وائی په دے كښې د هيڅا خلاف نشته دے او كۀ څوك ظالم يو سړی لره قتلول غواړی او هغه د يو سړی سره امن اخستے وی نو هغه امن وركونكی له دروغ وئيل واجب دی چه هغه اووائی چه زۀ نۀ يم خبر چه هغه سړے چرته دے. او څنے علماؤ وئيلي دي چه د هغوی نه يو طبری هم دے چه دروغ وئيل مطلقًا په هيڅ حال كښې صحيح نۀ دی. او دا مذكوره دروغ په طريق د توريه او تعريض دی نۀ په كذب صريح سره. او د اصلاح دپاره دروغ دادی چه د هر يو فريق د طرفنه هغه بل فريق ته ښے خبرے اورسوی. او په جنګ كښې مثلا داسے اووائی چه ستاسو سردار مړ شوے دے او مراد د سردار نه څوك د تيرے زمانے سردار (په زړۀ كښې) ياد كړی. او د خاوند د خپلے بی بی سره هغه دروغ صحيح دی يا د بی بی د خپل خاوند سره چه هغه د محبت د زياتولو دپاره اووئيلے شی نۀ د مكر او فريب دپاره چه په هغے كښې د يو كس حق نفی وی حرام دی بالاجماع (نووی)

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ صَالِحٍ وَقَالَتْ وَلَمْ أَسْمَعْهُ يُرَخِّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ بِمِثْلِ مَا جَعَلَهُ يُونُسُ مِنْ قَوْلِ ابْنِ شِهَابٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ إِلَى قَوْلِهِ وَنَمَى خَيْرًا وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ

محمد بن مسلم بن عبید الله په دے اسناد سره دغسے حدیث روایت کړے دے. مګر په دے کښې د صالح (راوی) په حدیث کښې دی چه ام کلثوم اوونیل چه ما نه دی اوریدلی چه حضرت ﷺ د دریو خایونو نه علاوه رخصت ورکړے وی خنګه چه خلق وائی. خنګه چه یونس (راوی) ابن شهاب نه هغوی د زهری نه په دے اسناد سره د نَمٰی خَیْرًا پورے ذکر کړو. او د دے نه روستو مضمون ئے ذکر نه کړو.

بَابُ تَحْرِيمِ النَّمِيمَةِ

باب: چغلخوری حرامه ده

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ إِنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ مَا الْعَضْهُ هِيَ النَّمِيمَةُ الْقَالَةُ بَيْنَ النَّاسِ وَإِنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ يَصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ صِدِّيقًا وَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ كَذَّابًا

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه حضرت محمد ﷺ فرمائیلی دی خبر شئ زۀ تاسو ته بنایم چه بهتان قبیح څۀ څیز دے؟ هغه چغلی ده چه په خلقو کښې دشمنی غورځوی. او حضرت ﷺ فرمائیلی دی چه بنده رښتیا وائی تر دے پورے چه د الله په تر رښتونے اولیکلے شی او دروغ وائی تر دے پورے چه د الله په تر دروغجن اولیکلے شی.

بَابُ قُبْحِ الْكَذِبِ وَحُسْنِ الصِّدْقِ وَفَضْلِهِ

باب: د دروغو بدوالے او د رښتیا وئیلو ښه والے او د دے د فضیلت بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ صِدِّيقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی رښتیا د نیکئ په طرف لار ښائی او نیکی جنت ته بوتلل کوی او بنده چه رښتیا وائی تر دے پورے چه د الله په تر رښتونے لیکلے کیږی. او دروغ د بدئ په طرف لار ښائی او بدی د جهنم په طرف بوتلل کوی او بنده چه دروغ وائی تر دے پورے چه د الله په تر

وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ كَذَّابًا

رښتونې لیکلے کیږی[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ فُجُورٌ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ كَذَّابًا قَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ فِي رِوَايَتِهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه رښتیا وئیل نیکی ده او نیکی جنت ته بوتلل کوی . او بنده رښتیا وائی، تردے پورے چه هغه صدیق اولیکلے شی. او دروغ گناه ده او گناه دوزخ ته بوتلل کوی. او بنده دروغ وائی تردے پورے چه کذّاب اولیکلے شی. ابن ابی شیبه په خپل روایت کښ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ وئیلی دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيقًا وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا

حضرت عبد اللهؓ نه روایت دے چه رسول الله فرمائیلی دی رښتیا خامخا غوره کوئ. خکه چه رښتیا نیکئ طرف ته بوتلل کوی او نیکی جنت ته به بوځی. او سړے رښتیا وائی او رښتیاؤ ولاړ وی تردے پورے چه د الله په نیز رښتونے اولیکلے شی. او د دروغو نه بچ شئ. خکه چه دروغ گناه طرف ته بوتلل کوی. او گناه به جهنم ته بوځی. او سړے دروغ وائی او په دروغو ولاړ وی تردے پورے چه الله په نیز دروغژن اولیکلے شی.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِ عِيسَى وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ مُسْهِرٍ حَتَّى يَكْتُبَهُ اللهُ

د اعمش نه په دے اسناد سره روایت دے. او د عیسیٰ (راوی) په حدیث کښ په دروغو او په رښتیاؤ د ولاړ پاتے کیدلو ذکر نشته. او د مسهر په حدیث کښ دی تردے پورے چه الله تعالی دهٔ لره اولیکی[2].

---

[1] یعنی د رښتونو او دروغژنو په فهرست کښ د هغهٔ نوم داخلولے شی یا د خلقو په زړونو باندے د هغے اثر کیږی

[2] نووی وائی زمونږ په ښارونو کښ چه د بخاری مسلم کومے نسخے موجودے دی په هغے کښ دا حدیث دومره قدرے دے و هم دغسے نے نقل کړے دے لره قاضی او حُمیدی. لیکن ابومسعود دمشقی دومره زیاتوالے نقل کړے دے چه شرُّ الرَّوَايَا رَوَايَا الْكَذِبِ وَإِنَّ الْكَذِبَ لَا يَصْلُحُ مِنْهُ جِدٌّ وَلَا هَزْلٌ وَلَا يَعِدُ الرَّجُلُ صَبِيَّهُ ثُمَّ يُخْلِفُهُ. یعنی بد تړل کولو والا هغه دے چه هغه دروغ نقل

بَابُ فَضْلِ مَنْ يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَعُدُّونَ الرَّقُوبَ فِيكُمْ قَالَ قُلْنَا الَّذِي لاَ يُولَدُ لَهُ قَالَ لَيْسَ ذَاكَ بِالرَّقُوبِ وَلَكِنَّهُ الرَّجُلُ الَّذِي لَمْ يُقَدِّمْ مِنْ وَلَدِهِ شَيْئًا قَالَ فَمَا تَعُدُّونَ الصُّرَعَةَ فِيكُمْ قَالَ قُلْنَا الَّذِي لاَ يَصْرَعُهُ الرِّجَالُ قَالَ لَيْسَ بِذَلِكَ وَلَكِنَّهُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ

عَنِ الأَعْمَشِ بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَ مَعْنَاهُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ

باب: کوم سړے چه د غصے په وخت په خپل نفس قابو لري د هغهٔ د بزرګئ بیان

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي چه میراث تاسو چا ته وایئ: خلقو عرض اوکړو هغه چا ته چه د هغهٔ اولاد نشته دے (د هغهٔ اولاد خو په آخرت کښې د هغهٔ د مدد کولو دپاره موجود دے) میراث په حقیقت کښې هغه سړے دے چه هغه د خپل اولاد نه د ځان نه مخکښې څهٔ لیږلي نهٔ وي (یعني چه د هغهٔ مخامخ د هغهٔ یو بچے مړ نهٔ وي) حضرتﷺ اوفرمائیل پهلوان تاسو په خپل مینځ کښې چا ته وایئ؟ مونږ اووے پهلوان هغه دے چه هغهٔ له سړی نهٔ شي راپرځولے. حضرتﷺ اوفرمائیل هغه هیڅ نهٔ دے. پهلوان هغه دے چه هغه د غصے په وخت خپل ځان قابو کښې اوساتي (یعني د ژبے نه څهٔ خبره د مصلحت نه خلاف او نهٔ کړي)[1].

د اعمش نه په دے اسناد سره دد ے هم معنی روایت دے.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي پهلوان هغه نهٔ دے چه هغه په پرځولو کښې غالب راشي. بلکه پهلوان هغه دے

کوی او دروغ جائز نهٔ دي په هیڅ شان که په ربنتیا وي یا په توقه سره. او بنده د د خپل هلك سره وعده نهٔ کوی (د دروغو) بیا په هغے باندے قسم خوری

[1] یعني خامخا په ظاهر کښې بے اولاده او پهلوان دغے ته وئیلے شي کوم چه تاسو اووے. لیکن د الله په نزد په حقیقت کښې بے اولاده او پهلوان هغه دے کوم چه حضرتﷺ اوفرمائیل په دے واسطه چه د اولاد نه دا غرض دے چه د مصیبت په وخت پکار راشي نو د چا چه لوئے بچے مړ شو او هغه صبر اوکړو نو دغه صبر کول به په قیامت کښې د هغهٔ پکار راشي. او کچرے ماشوم مړ شو نو هغه به د الله نه د خپل مور پلار شفاعت هم کوی. نو په هر صورت کښې اولاد پکار راغے او د چا چه بچے مړ نهٔ شو هغهٔ ته دا فائده حاصله نهٔ شوه. نو لکه چه هغه بے اولاده پاتے شو اګر چه په ظاهره ئے اولاد وو نو ددهٔ ئے څهٔ کار اونکړو دغه شان پهلوان په حقیقت کښې هغه دے چه هغه غصے له په ځان غالبه نهٔ کړي اګر که په ظاهره کم زورے وي. دد ے قسم پهلوانان ډیر کم میلاویږي. او داسے پهلوانان کوم چه یو نیم سیر خوړلو والا دي په زرګونو دي

إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ

چه هغه د غصې په وخت خپل ځان قابو اوساتي (يعنې ژبه د هغهٔ په قابو کښې وي)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ قَالُوا فَالشَّدِيدُ أَيُّمَ هُوَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ

د ابوهريره نه روايت دے چه ما اوريدلى دى د رسول الله ﷺ نه هغوى فرمائيل پهلوان هغه نهٔ دے چه سړے راغورځوي خلقو عرض اوکړو چه بيا پهلوان څوک دے؟ يا رسول الله حضرت ﷺ اوفرمائيل پهلوان هغه دے چه د غصې په وخت کښې په خپل ځان قابو ساتي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

ابوهريرهؓ د نبي ﷺ نه د پورتنى حديث پشان روايت کړے دے.

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ أَحَدُهُمَا تَحْمَرُّ عَيْنَاهُ وَتَنْتَفِخُ أَوْدَاجُهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ الَّذِي يَجِدُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ فَقَالَ الرَّجُلُ وَهَلْ تَرَى بِي مِنْ جُنُونٍ قَالَ ابْنُ الْعَلَاءِ فَقَالَ وَهَلْ تَرَى وَلَمْ يَذْكُرِ الرَّجُلَ

د سليمان بن صرد نه روايت دے وائي چه دوؤ سړو يو بل ته د رسول الله ﷺ په مخکښې کنځل اوکړل د يو سړي سترګې سرے شوے او د مرئ رګونه ئې اوپړسيدل. حضرتؐ اوفرمائيل ماته يوه کلمه معلومه ده کچرے دا دهٔ ته اووائي نو ددهٔ غصه به لاړه شي. هغه کلمه داده. أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ هغه سړي ددے په اوريدو سره اووے. ستاسو خيال دادے چه زهٔ ليونے يم (په حقيقت کښې د يوانه وو چه تراوسه ئې نيکه خبره نهٔ وه اوريدلې) (نوويؒ وائي کيدے شي هغه منافق وو يا کم عقل سخت باناړيچي وو د هغهٔ دا خيال وو چه اعوذ بالله صرف د ليونتوب علاج دے)

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ فَجَعَلَ أَحَدُهُمَا يَغْضَبُ وَيَحْمَرُّ وَجْهُهُ فَنَظَرَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ ذَا عَنْهُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ فَقَامَ إِلَى الرَّجُلِ رَجُلٌ مِمَّنْ سَمِعَ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ أَتَدْرِي مَا قَالَ رَسُولُ اللهِ

د سليمان بن صرد نه روايت دے چه دوؤ سړو د رسول الله ﷺ په خوا کښې کنځل اوکړل. يو په هغوى کښې ډير غصه شو او د غصې په وجه د هغهٔ مخ سُور شو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل. ما ته يوه داسې کلمه معلومه ده کچرے دا اووائي نو ددهٔ دا حالت به لاړ شي. هغه کلمه داده. أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ. نو يو بل سړے دهٔ ته اووے. تا ته معلومه ده چه رسول اللهؐ اوس څهٔ

ﷺ آنِفًا قَالَ إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ ذَا عَنْهُ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ فَقَالَ لَهُ الرَّجُلُ أَمَجْنُونًا تَرَانِي

اوفرمائیل چه ماته داسې یوه کلمه معلومه ده کچرې دا اووې نو ددهٔ به دا حالت ختم شي یعنی أَعُوذُ بِاللَّهِ الخ نو هغه سړی اووې تاسو ما لیونی وینئ.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د اعمش نه په دې اسناد سره روایت دې.

بَابُ خَلْقِ الْإِنْسَانِ خَلْقًا لَا يَتَمَالَكُ

باب: انسان داسې پیدا شوې چه اختیار نشي لرلې

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا صَوَّرَ اللَّهُ آدَمَ فِي الْجَنَّةِ تَرَكَهُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَتْرُكَهُ فَجَعَلَ إِبْلِيسُ يُطِيفُ بِهِ يَنْظُرُ مَا هُوَ فَلَمَّا رَآهُ أَجْوَفَ عَرَفَ أَنَّهُ خُلِقَ خَلْقًا لَا يَتَمَالَكُ

د انس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي هر کله چه الله تعالی د ادم علیه السلام صورت جوړ کړو په جنت کښې نو پریخودهٔ ئې هغهٔ لره څهٔ ورځې څومره چه د الله خوښه وه. نو شیطان د هغې نه چاپیره ګرځیدهٔ. هر کله چه هغه خالي ګیډه اولیدهٔ نو اوئې پیژندهٔ چه په دې شان پیدا کړې شوې دې چه دې به اختیار نهٔ شي لرلې (یعنی د شهوت د غلبې او غصې نه به ځان نهٔ شي بچ کولې یا د وسوسو نه به خپل ځان نهٔ شي بچ کولې. نووی)

عَنْ حَمَّادٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د حماد نه په دې اسناد سره دغسې روایت دې.

بَابُ النَّهْيِ عَنْ ضَرْبِ الْوَجْهِ

باب: په مخ د وهلو ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي هر کله چه ستاسو نه څوك د خپل رور سره جنګ کوي نو د هغهٔ مخ د بچ ساتي[1].

عَنْ أَبِي الزِّنَادِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ

د ابوالزناد نه په دې اسناد سره روایت دې. او په دې کښې دي هر کله چه په تاسو کښې څوك وهل کوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي په تاسو کښې چه څوك جهګړه کوي نو په مخ باندې د وهلو نه د ځان ساتي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي هر

---

[1] یعنی د هغهٔ مخ د بچ ساتي یعنی په مخ د ئې نهٔ وهي ځکه چه د مخ په وهلو سره ځنې وخت په عقل کښې فرق راتلې شي. او کله داغ جوړ شي چه هر وخت په ظاهره سره ښکاري. دغه شان بچي یا بي بي یا غلام وینځې لره د وهلو په وخت په مخ باندې وهل نهٔ دي پکار. نووی

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلَا يَلْطِمَنَّ الْوَجْهَ

کله چه څوك ستاسو نه د خپل رور سره په جنګ شی نو په مخ د سپیره نهٔ ورکوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ حَاتِمٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ فَإِنَّ اللَّهَ خَلَقَ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ؐ فرمائیلی دی هر کله چه څوك په تاسو کښې د خپل رور سره جنګ کوی نو د هغهٔ د مخ نه د ځان ساتی ځکه چه الله تعالی بنده لره پخپل صورت باندے جوړ کړے دے[1].

---

[1] امام نووی وئیلی دی دا حدیث د صفاتو د حدیثو نه دے او ددے حکم په کتاب الایمان کښې په وضاحت سره بیان شوے دے او ځنے علماء ددا سے حدیث تاویل نهٔ کوی او وائی چه مونږ په دے باندے ایمان راوړے دے چه هغه حق دی. او د هغے ظاهری معنی مراد نهٔ ده بلکه داسے معنی مراد ده چه د الله د صفت کیدو لائقه ده. او دغه د جمهور سلفو مذهب دے او هم په دغے کښې احتیاط او سلامتی ده او ځنے ددے تاویل کوی لکه چه لائق دی د الله تعالی د تنزیه. ځکه چه د هغهٔ په مثل څهٔ شے نشته دے. مازری وائی دا حدیث د هغه الفاظو نه ثابت دے او ځنو دا روایت کړے دے چه الله تعالی آدم لره د رحمان په صورت باندے جوړ کړے دے. او دا لفظ د محدثینو په نزد ثابت نهٔ دے او کیدے شی دا غلطی د معنی په نقل کیدو پیدا شوے وی. مازری وائی ابن قتیبه په دے حدیث کښې غلطی کړے ده او دے لره ئے په ظاهر باندے چلولے دے. او وئیلی ئے دی چه د الله تعالی یو صورت دے لیکن د نورو صورتونو په شان نهٔ دے او دا قول د فساد ظاهرونکے دے ځکه چه په صورت سره ترکیب لازم راځی. او هر مرکب حادث دے او الله عزوجل حادث نهٔ دے نو صورت والا به هم نهٔ وی او دا قول د هغوی د مجسمو پشان دے چه الله تعالی جسم دے نهٔ د نورو جسمونو په شان هغوی اولیدل چه اهل سنت وائی الله تعالی شئ دے نهٔ د نورو اشیاؤ پشان نو سوائے کړو. او اوئے وئیل هغه جسم دے نهٔ د نورو اجسامو پشان حالانکه په شئ او جسم کښې څومره لوئے فرق دے شئ حدوث ته مقتضی نهٔ دے او جسم او صورت ترکیب ته مقتضی دی او په ترکیب سره حدوث لازمیږی. او تعجب دے په ابن قتیبه سره چه هغوی وائی چه الله تعالی صورت دے نهٔ د نورو صورتونو پشان حالانکه د ظاهر حدیث د هغوی په رائے باندے دا مضمون دے چه الله تعالی آدم لره په خپل صورت باندے جوړ کړے دے. نو دواړه صورتونه د یو بل نظیر شول. بیا دا وئیل چه د هغهٔ صورت د نورو صورتونو پشان نهٔ دے تناقض دے. او دوی ته به اووئیلے شی چه صورت دے نهٔ د نورو صورتونو پشان ددے نه څهٔ مراد دے. کچرے دا غرض وی چه هغه مرکب نهٔ دے نو صورت نهٔ شو حقیقتهٔ په دے صورت کښې دا لفظ په ظاهر باندے پاتے نهٔ شو. او تاویل شو. او علماؤ اختلاف کړے دے ددے په تاویل کښې. ځنے وائی ضمیر په صورت کښې د هغه سړی په طرف راځی چه په چا حد پریوتے دے. نو مطلب صفا دے چه الله تعالی آدم جوړ کړو د هغهٔ په صورت باندے یعنی د آدم په صورت باندے او دا تاویل ضعیف دے. او ځنو وئیلی دی چه ضمیر د الله په طرف راګرځی او اضافت د تشریف او اختصاص دپاره لکه چه وائی ناقة الله د الله تعالی اوښه او کعبے ته بیت الله وئیلے شی. والله اعلم بالصواب

د اردو کتاب مترجم وائی چه دا حدیث په خپل ظاهر باندے محمول دے. ځنګه چه په نورو احادیثو د صفاتو زمونږه ایمان دے او د هغے په ظاهری معنی باندے او مونږ یکښې تاویل نهٔ کوو د سلفو دغه مذهب دے او امام نووی ؒ چه کومه د ظاهر معنی نفی د سلفو نه نقل کړے ده ددے نه د ظاهر متعارف نفی منظوره ده. چه د مخلوقات سره خاص ده نهٔ ظاهری معنی لغوی ورته دا نقل غلط دے او په انتها فی الاستواء کښې مونږ د ائمه سلفو ډیر اقوال نقل کړی دی چه هغه وائی احادیث صفات په ظاهر باندے محمول

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إذا قاتل أحدكم أخاه فليجتنب الوجه

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه څوك ستاسو نه د خپل رور سره په جنګ شی نو د هغهٔ د مخ نه د ځان بچ ساتی. (یعنی په مخ د نے نه وهی)

بَابُ الْوَعِيدُ الشَّدِيدُ لِمَنْ عَذَّبَ النَّاسَ بِغَيْرِ حَقٍّ

باب : کوم سړے چه خلق په ناحقه تنګوی د هغهٔ عذاب

عَنْ هِشَامِ بْنِ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ مَرَّ بِالشَّامِ عَلَى أُنَاسٍ وَقَدْ أُقِيمُوا فِي الشَّمْسِ وَصُبَّ عَلَى رُءُوسِهِمِ الزَّيْتُ فَقَالَ مَا هَذَا قِيلَ يُعَذَّبُونَ فِي الْخَرَاجِ فَقَالَ أَمَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ فِي الدُّنْيَا

د هشام بن حکیم بن حزام نه روایت دے وائی چه زهٔ د شام په ملك کښې په څهٔ خلقو باندے تیر شوم چه هغه په غرمو اودرولے شوی وو او د هغوی په سرونو باندے نے تیل اچولی وو. هغوی تپوس اوکړو دا څهٔ دی؟ خلقو اووے د سرکاری محصول ورکولو دپاره دوی له سزا ورکولے شی. هغوی اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی وو الله به عذاب ورکوی هغه خلقو لره چه هغه په دنیا کښې خلقو لره په عذاب کوی. (یعنی په ناحقه او په دے کښې هغه عذاب

دی. او د مازری اعتراض په ابن قتیبه باندے غلط دے خکه چه هغه صورت کوم چه د پروردګار دے داسے دے لکه پروردګار یا پخپله یا د هغهٔ سمع یا بصر یا لاس قدم. څنګه چه په دغه اشیاؤ سره ترکیب لازم نه راځی دغه شان په صورت سره هم لازم نه راځی. او د جسم اطلاق په الله تعالی باندے په احادیث کښې نه دی راغلی پس مونږ څنګه په خپل زړهٔ سره اطلاق اوکړو او مونږ د جسم نفی هم نه کوو خکه چه کوم صفت د پروردګار دپاره نه دے راغلے د هغے اثبات او د هغے نفی دواړه بے دلیله دی او د جسم نفی کچرے دده وجے نه ده چه په دے سره حدوث یا ترکیب لازم راځی نو په نورو صفاتو سره هم لکه کوزیدل ختل خبرے کول تلل راتلل خندل. اوریدل. کتل په دے صفاتو سره هم لازم راځی حالانکه ددے صفاتو په ثبوت باندے د اهل سنتو اجماع ده. اوس دا اعتراض د مازری چه هر کله صورت د الله تعالی د لاتصوّر شو نو آدم د هغهٔ په صورت باندے څنګه کیدے شی د ناپوهئ نه دے. خکه چه دا تشبیه صرف په اطلاق لفظ کښې ده نه په مراد او حقیقت کښې لکه چه څوك اووائی الله هم اوری بنده هم اوری د الله هم لاس دے د بنده هم لاس دے. او دا تشبیه په حقیقت کښې تشبیه نه ده بلکه د الفاظ اشتراك دے په حدیث کښې نے مجازاً دے لره د تشبیه په کاف سره تعبیر کړے دے ورنه دا حدیث به د لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ مخالف شی امام شوکانی په دے حدیث کښې د عَلَى صُورَتِهٖ ضمیر د آدم په طرف ګرځولے دے او یو قول نے دا هم لیکلے دے چه د صُورَتِهٖ نه صفت مراد دے. خو دا تاویل څهٔ نه دے خکه چه په داسے تاویلاتو سره د حدیث مضمون خرابیږی او په مخ باندے د نه وهلو هیڅ وجه نه راوځی. په سراج الوهاج کښې علامه ابوالطیب فرمائیلی دی چه راجع طریقه د سلفو داده یعنی جاری کول د هغه احادیثو په خپلو ظاهری معنو باندے بغیر د تاویل او تعطیل او تکییف او تمثیل نه او په دے کښې څهٔ قباحت نشته والله اعلم

داخل نۀ دے چه هغه د حد یا د قصاص یا د تعزیر وی۔

عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ مَرَّ هِشَامُ بْنُ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ عَلَى أُنَاسٍ مِنَ الأَنْبَاطِ بِالشَّامِ قَدْ أُقِيمُوا فِي الشَّمْسِ فَقَالَ مَا شَأْنُهُمْ قَالُوا حُبِسُوا فِي الْجِزْيَةِ فَقَالَ هِشَامٌ أَشْهَدُ لَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا

هشام د خپل پلار نه روایت کړے دے چه هشام بن حکیم بن حزام د شام په زمیندارانو باندے تیر شو چه هغوی په نمر کښې اودرولے شو نو هغوی معلومه کړه چه ددوی سره دا معامله ولے ده. خلقو اووے چه د جزیے په وجه دوی ته دا سزا ورکړے کیږی. نو هشان اووے چه زۀ گواهی ورکوم چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی هغوی فرمائیل الله تعالی به عذاب ورکوی هغه خلقو ته چه په دنیا کښې خلقو ته عذاب ورکوی.

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ جَرِيرٍ قَالَ وَأَمِيرُهُمْ يَوْمَئِذٍ عُمَيْرُ بْنُ سَعْدٍ عَلَى فِلَسْطِينَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَحَدَّثَهُ فَأَمَرَ بِهِمْ فَخَلَّوْا

د هشام نه په دے اسناد سره روایت دے او د جریر په حدیث کښې دا زیاته ده چه په هغه ورځو کښې د هغه ځائے حاکم عمیر بن سعد وو چه د فلسطین والی وو (فلسطین وائی بیت المقدس او د هغے گیر چاپیره ښارونو ته) هشام بن حکیم د هغۀ خواله لاړو او دا حدیث ئے بیان کړو. هغۀ حکم ورکړو. هغه خلق خلاص کړے شو.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ هِشَامَ بْنَ حَكِيمٍ وَجَدَ رَجُلاً وَهُوَ عَلَى حِمْصَ يُشَمِّسُ نَاسًا مِنَ النَّبَطِ فِي أَدَاءِ الْجِزْيَةِ فَقَالَ مَا هَذَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا

د عروه بن زبیر نه روایت دے چه هشام ابن حکیم یو سړے اولیدۀ چه د حمص حاکم وو هغه په نمر کښې زمیندارانو له سزا ورکوله د جزیے د وصول دپاره. نو هغوی اووے دا څۀ دی. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی هغوی فرمائیلی دی هغه خلقو ته به الله عذاب ورکوی چه په دنیا کښې خلقو ته عذاب ورکوی.

بَابُ أَمْرِ مَنْ مَرَّ بِسِلَاحٍ فِي مَسْجِدٍ أَوْ سُوقٍ أَمْسَكَ بِنِصَالِهَا

باب: څوک چه مسجد یا بازار ته وسله یوسی نو د هغے د څوکو د احتیاط ساتی

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ مَرَّ رَجُلٌ فِي الْمَسْجِدِ بِسِهَامٍ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْسِكْ بِنِصَالِهَا

د جابرؓ نه روایت دے وائی چه یو سړے د غشو په لاس جماعت ته راغے. رسول اللهﷺ ورته اوفرمائیل دد ے غشو څوکے او نیسه[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَجُلًا مَرَّ بِأَسْهُمٍ فِي الْمَسْجِدِ قَدْ أَبْدَى نُصُولَهَا فَأُمِرَ أَنْ يَأْخُذَ بِنُصُولِهَا كَيْ لَا يَخْدِشَ مُسْلِمًا

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه یو سړی غشی رااخستی وو او جماعت ته راغے. د هغے څوکے ویستلے شوے وے حضرتﷺ اوفرمائیل دد ے څوکے اونیسه چه څوک مسلمان نوکارے نه کړی.

عَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَمَرَ رَجُلًا كَانَ يَتَصَدَّقُ بِالنَّبْلِ فِي الْمَسْجِدِ أَنْ لَا يَمُرَّ بِهَا إِلَّا وَهُوَ آخِذٌ بِنُصُولِهَا وَقَالَ ابْنُ رُمْحٍ كَانَ يَصَّدَّقُ بِالنَّبْلِ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ حکم اوکړو یو سړی ته چه هغه به غشی تقسیمول په جماعت کښ چه هر کله غشی راواخلے اورااوخے نو د هغے څوکے محفوظے ساته.

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا مَرَّ أَحَدُكُمْ فِي مَجْلِسٍ أَوْ سُوقٍ وَبِيَدِهِ نَبْلٌ فَلْيَأْخُذْ بِنِصَالِهَا ثُمَّ لِيَأْخُذْ بِنِصَالِهَا ثُمَّ لِيَأْخُذْ بِنِصَالِهَا قَالَ فَقَالَ أَبُو مُوسَى وَاللهِ مَا مُتْنَا حَتَّى سَدَّدْنَاهَا بَعْضُنَا فِي وُجُوهِ بَعْضٍ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے چه رسول اللهؐ فرمائیلی دی چه هر کله څوک ستاسو نه په جماعت یا بازار کښ تیریږی او په لاس کښ ئے غشے وی نو پکار ده چه د هغے څوکے اونیسی. بیا د هغے څوکے اونیسی بیا د هغے څوکے اونیسی (درے خلئے اوفرمائیل د تاکید دپاره) ابوموسیٰؓ اووے په الله قسم دے. مونږ نه مړهٔ کیږو تردے پورے چه مونږ غشی اولګوؤ د یو بل په مخ باندے (یعنی په خپلو کښ په جنګ شو او د رسول اللهﷺ د ارشاد خلاف اوکړو)

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا مَرَّ أَحَدُكُمْ فِي مَسْجِدِنَا أَوْ فِي سُوقِنَا وَمَعَهُ نَبْلٌ فَلْيُمْسِكْ عَلَى نِصَالِهَا بِكَفِّهِ أَنْ يُصِيبَ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے چه رسول الله اوفرمائیل. هر کله چه په تاسو کښ څوک زمونږ د جماعت یا زمونږ په بازار کښ تیریږی او ددهٔ سره غشی وی نو دهٔ لره د هغے څوکے نیول پکار دی. ددے دپاره چه یو مسلمان ته نقصان اونهٔ

---

[1] ددے څوکے اونیسه چه چا ته تکلیف او نهٔ رسی. نوویؒ وائی: کوم څیز نه چه د ضرر احتمال وی د هغے حکم دے زمونږ په زمانه کښ ټوپک یا نماچے لره مجمعے ته ډک اوړل نهٔ دی پکار.

مِنهَا بِشَيْءٍ أَوْ قَالَ لِيَقْبِضْ عَلَى نِصَالِهَا

رسي.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْإِشَارَةِ بِالسِّلَاحِ إِلَى مُسْلِمٍ

باب: یو مسلمان په وسله د یرولو ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَشَارَ إِلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَلْعَنُهُ حَتَّى يَدَعَهُ وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي چا چه یو خپل رور لره اویره وو په وسپنه سره (یعني په وسلې سره) په هغهٔ باندے فرښتے لعنت کوي. د کومے پورے چه د هغهٔ نه قلار نهٔ شي اګر کهٔ هغه د هغوی سکه رور وي (او د هغهٔ وهل ورته منظور نهٔ وي لیکن صرف په یرولو کښې دومره لویه ګناه ده معاذالله)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

ابوهریرهؓ د نبيﷺ نه د پورتني حدیث پشان روایت کړے دے.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُشِيرُ أَحَدُكُمْ إِلَى أَخِيهِ بِالسِّلَاحِ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَحَدُكُمْ لَعَلَّ الشَّيْطَانَ يَنْزِعُ فِي يَدِهِ فَيَقَعُ فِي حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ

همّام بن منبّه وئیلي دي چه دا هغه حدیث دے چه مونږ ته ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ نه بیان کړے دے. هغوی څو حدیثونه بیان کړل یو په هغوی کښې دا دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه څوك د ستاسو نه خپل یو رور لره په وسلے سره دهمکي نهٔ ورکوي. معلومه نهٔ ده چه شیطان د دهٔ لاس لره ورا وباسي (او لاس اوچلیږي) او د جهنم په کنده کښې ورا و رغور ځیږي.

بَابُ فَضْلِ إِزَالَةِ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ

باب: د لارے نه د ضرر رسونکي څیز د لرے کولو ثواب

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيقِ فَأَخَّرَهُ فَشَكَرَ اللهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي چه یو سړے په لاره روان وو هغه په لاره کښې د ازغو یو ښاخ اولیدو نو د لارے نه ئې لرے کړو الله تعالی د هغهٔ نیکي قبوله کړه او هغه ئې اوبخښلو. (نوويؒ وائي مسلمانانو ته په هر قسم فائده ورکولو کښې دغه ثواب دے)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ رَجُلٌ بِغُصْنِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي یو سړے په لاره تیریدو چه په لاره کښې ئې د ازغو یوه څانګه اولیده نو

شَجَرَةٍ عَلَى ظَهْرِ طَرِيقٍ فَقَالَ وَاللهِ لَأُنَحِّيَنَّ هٰذَا عَنِ الْمُسْلِمِينَ لَا يُؤْذِيهِمْ فَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ

اونے ونیل قسم په الله دے زهٔ دے لره لرے کوم د مسلمانانو د تلو راتلو د لارے نه د دے دپاره چه هغوی ته تکلیف نهٔ وی الله تعالی هغهٔ لره په جنت کښې داخل کړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَتَقَلَّبُ فِي الْجَنَّةِ فِي شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ كَانَتْ تُؤْذِي النَّاسَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی وائی چه ما په جنت کښې یو سړے په مزو سر اولیدو چه هغه یوه اونه دلارے نه کټ کړے وه چه د هغے نه به خلقو ته تکلیف وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ شَجَرَةً كَانَتْ تُؤْذِي الْمُسْلِمِينَ فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَطَعَهَا فَدَخَلَ الْجَنَّةَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یوے اونے به مسلمانانو ته تکلیف ورکولو یو سړے راغے او هغه اونه ئے کټ کړله پس جنت ته داخل شو

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ عَلِّمْنِي شَيْئًا أَنْتَفِعْ بِهِ قَالَ اعْزِلِ الْأَذَى عَنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ

د ابوبرزهؓ نه روایت دے وائی چه ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه اے د الله نبیﷺ ماته یوه خبره داسے اوښایه چه د هغے نه فائده اوچته کړم. حضرت ﷺ اوفرمائیل د مسلمانانو دلارے نه د ضرر څیزونه لرے کوه.

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ أَنَّ أَبَا بَرْزَةَ قَالَ قُلْتُ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي لَا أَدْرِي لَعَسَى أَنْ تَمْضِيَ وَأَبْقَى بَعْدَكَ فَزَوِّدْنِي شَيْئًا يَنْفَعُنِي اللهُ بِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ افْعَلْ كَذَا افْعَلْ كَذَا أَبُو بَكْرٍ نَسِيَهُ وَأَمِرَّ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ

د ابوبرزهؓ نه روایت دے ما اووے یا رسول الله! زهٔ نهٔ پوهیږم کیدے شی تاسو وفات شئ او زهٔ ستاسو نه پس ژوندے پاتے شم. نو څهٔ داسے خبره راته اوښایه چه په هغے سره الله تعالی ما ته نفع راکوی. حضرت ﷺ اوفرمائیل داسے کوه داسے کوه. د راوی نه هیر شوی دی. او حکم ئے اوکړو د ضرر ورکونکی څیز دلارے نه د لرے کولو.

بَابُ تَحْرِيمِ تَعْذِيبِ الْهِرَّةِ وَنَحْوِهَا مِنَ الْحَيَوَانِ الَّذِي لَا يُؤْذِي

باب : کوم ځناور چه تکلیف نهٔ ورکوی هغهٔ ته تکلیف ورکول حرام دی. لکه پیشو ته

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ سَجَنَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ لَا هِيَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه یوه ښځه د یوے پیشو په وجه په عذاب شوے وه. چه هغے پیشو لره قیده کړے وه تر دے پورے چه مړه شوه. پس هغه ښځه جهنم ته لاړه.

أَطْعَمَتْهَا وَسَقَتْهَا إِذْ هِيَ حَبَسَتْهَا وَلَا هِيَ تَرَكَتْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ

دغه ښځې هغې پیشو ته خوراك او اوبۀ نۀ ورکولې په قید کښې او نۀ ئې پریخوده چه د زمکې چینجي وغیره ئې خوړلې وے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ جُوَيْرِيَةَ

ابن عمرؓ د نبی ﷺ نه د جویریے د حدیث هم معنی حدیث روایت کړے دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ أَوْثَقَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَسْقِهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ

د ابن عمرؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ اوفرمائیل یوه ښځې ته د یوے پیشو په وجه عذاب ورکړے شو چه هغې لره ئې تړلې وه. نۀ ئې ورته خوراك ورکوو نۀ اوبۀ او نۀ ئې پریخوده چه هغې د زمکې چینجي خوړلې.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

ابوهریرهؓ د نبی ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ دَخَلَتِ امْرَأَةٌ النَّارَ مِنْ جَرَّاءِ هِرَّةٍ لَهَا أَوْ هِرٍّ رَبَطَتْهَا فَلَا هِيَ أَطْعَمَتْهَا وَلَا هِيَ أَرْسَلَتْهَا تُرَمْرِمُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتَّى مَاتَتْ هَزْلًا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه یوه ښځه د یوے پیشو په سبب سره دوزخ ته لاړه. چه هغې هغه تړلې وه پس نۀ ئې ورله خوراك ورکوۀ او نۀ ئې پریخوده چه د زمکې چینجي وغیره ئې خوړلې وے تردے پورے چه کمزورے شوه او مړه شوه.

بَابُ تَحْرِيمِ الْكِبْرِ

باب : غرور کول حرام دی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِزُّ إِزَارُهُ وَالْكِبْرِيَاءُ رِدَاؤُهُ فَمَنْ يُنَازِعُنِي عَذَّبْتُهُ

د ابوسعید خدریؓ او ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه عزت لنګ د الله دے او لوئی څادر د الله دے، یعنی دا دواړه د هغۀ صفتونه دی، پس څوك چه دا دواړه صفتونه اختیاروی الله وائی هغۀ له به عذاب ورکوم[1].

[1] نوویؒ وائی دا دے حدیث نه په غرور باندے سخت وعید رااووتو او دا هم معلومه شوه چه غرور حرام دے او دا صفت صرف د پروردګار دے.

مر اورا رسد کبریاء ومنی   که ملکش قدیم است وذاتش غنی

بَابُ النَّهْيِ عَنْ تَقْنِيطِ الْإِنْسَانِ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى

عَنْ جُنْدَبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لِفُلَانٍ وَإِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ مَنْ ذَا الَّذِي يَتَأَلَّى عَلَيَّ أَنْ لَا أَغْفِرَ لِفُلَانٍ فَإِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ أَوْ كَمَا قَالَ

باب: د الله د رحمت نه چا لره نا اُميده کول حرام دی

د جندب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه یو سړی اووے په الله قسم دے چه الله به فلانی لره نهٔ بخښی. الله تعالی اوفرمائیل څوك دے چه قسم خوری چه زهٔ به فلانی لره نهٔ بخښم ما هغهٔ لره اوبخښلو او د هغه (چا چه قسم خوړلے وو) عملونه مے بیکاره کړل[1].

بَابُ فَضْلِ الضُّعَفَاءِ وَالْخَامِلِينَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رُبَّ أَشْعَثَ مَدْفُوعٍ بِالْأَبْوَابِ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ

باب: د کمزورو او د ورك شوو خلقو فضیلت

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ډیر خلق بیرو ویختو والا او دوړو وهلی او د دروازو نه شړلی شوی داسے دی چه کهٔ د الله په بهروسه د چا په خبره قسم اوخوری نو الله تعالی د هغهٔ قسم رښتونے کوی[2].

بَابُ النَّهْيِ عَنْ قَوْلِ هَلَكَ النَّاسُ

باب: دا وئیل منع دی چه خلق تباه شو

---

[1] نووی وائی دد ے حدیث نه د اهل سنتو مذهب ثابتیږی چه الله تعالی کچرے اوغواړی نو بے د توبے ویستلو نه هم گناه معاف کولے شی او معتزلو دد ے حدیث نه دلیل نیولے د ے چه په کبیره گناهونو سره اعمالِ صالحه خرابیږی او د اهل سنتو دا مذهب د ے چه اعمال صرف په کفر سره ضائع کیږی. او دد ے حدیث نے دا مطلب بیان کړے د ے چه د هغهٔ نیکی د بدو په مخکښ اوغورځید ے. یا هغهٔ به بل یو داسے کار کړے وو چه هغے سره به هغه کافر شوے وو. یا دا حکم د ړومبنو امتونو دپاره وو. (انتهٰی)

[2] یعنی د الله بندیگان په ظاهره خو داسے ذلیله او بد ښکاری چه څوك ئے پخپله دروازه کښ اودریدو ته نهٔ پریږدی او په باطن کښ داسے پاك وی چه الله ته هر وخت د هغوی خاطر کول منظور وی. دد ے حدیث نه دوه فائد ے معلومے شوے اول دا چه هیڅ یو مسلمان په ظاهر کمزوری بدن ما لره سپك مهٔ گنړی.

خاکسارانِ جهاں را بحقارت منگر   توچه دان که درین گرد سوارے باشد

درویشانو د جهان ته بد مهٔ گوره   خبر نهٔ ئے چه چا پیره ترے سپایان شته

مگر دا هم نهٔ ده پکار چه د شرعے نه خلاف په فقیر عوام د ولی او قطب په طرف اعتقاد اولری. ځکه چه حضرت ﷺ په د ے حدیث کښ خنے بدشکله عاجزانو لره مقبول فرمائیلی دی او دائے نهٔ دی فرمائیلی چه شراب خور یا مدك یا بهنگو څښلو والا لند ے ږیرے خاوند به هم داسے وی. دویم فائده دا ده چه د ایمان سره اجزی او په خلقو کښ ورك والے الله تعالی ته غوره د ے. (تحفة الاخیار)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَالَ الرَّجُلُ هَلَكَ النَّاسُ فَهُوَ أَهْلَكُهُمْ قَالَ أَبُو إِسْحَقَ لَا أَدْرِي أَهْلَكَهُمْ بِالنَّصْبِ أَوْ أَهْلَكُهُمْ بِالرَّفْعِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمانيلى دى چه هر كله څوك دا اووائى چه خلق هلاك شو ، د سپكوالى نه چه خپل خان ښهٔ اوګڼړى او كچرے په افسوس يا غم يا ددين په خرابيدو باندے اووائى نو منع نهٔ دى، نو هغه پخپله د هر چا نه زيات هلاكيدونكے دے.

عَنْ سُهَيْلٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د سهيل نه په دے اسناد سره داسے روايت دے.

بَابُ الْوَصِيَّةِ بِالْجَارِ

باب : د ګاونډى حق

عَنْ عَائِشَةَ تَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ لَيُوَرِّثَنَّهُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روايت دے وائى چه رسول اللهﷺ فرمائيلى دى هميشه جبرائيلؑ ما ته د ګاونډى سره د سلوك كولو نصيحت كوى تردے پورے چه څما خيال راغے چه ګاونډے لره وارث جوړوى[1]

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

حضرت عائشےؓ د نبىﷺ نه د پورتنى حديث پشان روايت كړے دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ

د ابن عمرؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ فرمائيلى دى چه جبرائيلؑ ما ته د ګاونډى په باره كښې برابر تاكيد كوو تردے پورے چه څما خيال راغے چه دے به خو دده وارث جوړوى.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَأَكْثِرْ مَاءَهَا وَتَعَاهَدْ جِيرَانَكَ

د ابوذرؓ نه روايت دے وائى چه رسول اللهﷺ ما ته اوفرمائيل اے ابوذره! هر كله چه ته غوښه پخوے نو ښوروا پكښې ډيره كوه او خيال ساته د خپلو ګاونډيانو.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ إِنَّ خَلِيلِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَانِي إِذَا طَبَخْتَ مَرَقًا فَأَكْثِرْ مَاءَهُ ثُمَّ انْظُرْ أَهْلَ بَيْتٍ مِنْ جِيرَانِكَ

د ابوذرؓ نه روايت دے وائى چه څما جانى دوست ما ته وصيت كړے دے چه هر كله غوښه پخه وے نو شوروا پكښې ډيره كوه او د خپل ګاونډى كور والا ته فكر كوه هغوى ته ددغے خوروا نه ليږه. د

---

[1] يعنى ددے پورے د ګاونډى سره د احسان كولو تاكيد نے اوفرمائيلو چه څما دا خيال شو چه يو ګاونډى د بل ګاونډى ميراث خور جوړيږى په دے حديث كښې د ګاونډى د حق زيات تاكيد دے

فَأَصِبْهُمْ مِنْهَا بِمَعْرُوفٍ

بَابُ اسْتِحْبَابِ طَلَاقَةِ الْوَجْهِ عِنْدَ اللِّقَاءِ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ

بَابُ اسْتِحْبَابِ الشَّفَاعَةِ فِيمَا لَيْسَ بِحَرَامٍ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاهُ طَالِبُ حَاجَةٍ أَقْبَلَ عَلَى جُلَسَائِهِ فَقَالَ اشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا وَلْيَقْضِ اللهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ مَا أَحَبَّ

بَابُ اسْتِحْبَابِ مُجَالَسَةِ الصَّالِحِينَ

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالْجَلِيسِ السَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً

جانی دوست نه مراد رسول الله ﷺ دے)

باب د ملاقات په وخت په فراخه تندی سره ملاویدل

د ابوذر ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی احسان او نیکی کم مهٔ گنړئ (یعنی د ثواب نه خالی نهٔ دی) او دا هم یو احسان دے چه د خپل رور سره په روڼ تندی میلاؤ شے

باب : په ښهٔ کار کښې سفارش کول مستحب دی

د ابوموسیٰ ؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ خواله به هر کله چه څوک حاجتمند راغے نو حضرت ﷺ به خپلو ملګرو ته اوفرمائیل سفارش اوکړئ، ستاسو به اوشی او الله تعالی خو د خپل پیغمبر په ژبه باندے هغه حکم کوی څهٔ چه نے خوښه وی[1]

باب : د نیکو خلقو ملګرتیا مستحب ده

د ابوموسیٰ ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د نیك صحبت او د بد صحبت مثال داسے دے لکه مشك خرخولو والا او د بهتیٔ پوکلو والا. مشك والا یا خو به تاله هسے درکړی (د تحفے په طور باندے د بویولو دپاره) یا به ئے ترے نه واخلے نو د هغهٔ نه به خوشبو اوومومے. او بهتیٔ پوکلو والا یا خو به ستا کپړے سیزی یا بد بوی به نے تا ته بویول پریوځی[2]

---

[1] یعنی زهٔ خو به هغه کؤم کوم چه حق دے لیکن تاسو خپل ثواب مهٔ ختموئ سفارش کوئ تاسو لره ثواب دے نووی ؒ وائی شفاعت یعنی سفارش د باشاه او حاکم او هر سړی په خوا کښې صحیح دے اګر چه د ظلم د منع کولو دپاره یا د سزاء معاف کولو دپاره یا چا ته د حق ورکولو دپاره وی لیکن په حدودو کښې سفارش حرام دے دغه شان د ناحق دپاره

[2] یعنی د عطر خرخونکی پخوا کښې چه څوك کینی نو د فائدے نه خالی نهٔ دی. کچرے عطر وا نخلی نو خوشبوئ خو پرے اولګیده دغه مثال د نیك بنده دے چه د عالم یا درویش یا د په صحبت کښې څهٔ نه څهٔ فائده خو ضرور وی. او بهتیٔ پوکلو والا د بد

بَابُ فَضْلِ الْإِحْسَانِ إِلَى الْبَنَاتِ

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ جَاءَتْنِي امْرَأَةٌ وَمَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا فَسَأَلَتْنِي فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ وَاحِدَةٍ فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا فَأَخَذَتْهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا شَيْئًا ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ وَابْنَتَاهَا فَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ حَدِيثَهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ ابْتُلِيَ مِنَ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ جَاءَتْنِي مِسْكِينَةٌ تَحْمِلُ ابْنَتَيْنِ لَهَا فَأَطْعَمْتُهَا ثَلَاثَ تَمَرَاتٍ فَأَعْطَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا تَمْرَةً وَرَفَعَتْ إِلَى فِيهَا تَمْرَةً لِتَأْكُلَهَا فَاسْتَطْعَمَتْهَا ابْنَتَاهَا فَشَقَّتِ التَّمْرَةَ الَّتِي كَانَتْ تُرِيدُ أَنْ تَأْكُلَهَا بَيْنَهُمَا فَأَعْجَبَنِي شَأْنُهَا فَذَكَرْتُ الَّذِي صَنَعَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

باب : د لونړو سره د حسن سلوك فضيلت

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې ؓ نه روايت دے وائي چه ځما خواله يوه ښځه راغله د هغې دوه لونړه د هغې سره وے. هغې ځما نه سوال اوکړو ځما سره څۀ نۀ وو خو يوه كجهوره وه هغه مے ورله ورکړه هغې هغه كجهوره واخسته دوه ټکړے ئے کړه او يوه يوه ټکړه ئے دواړو لوريانو ته ورکړه او پخپله ئے څۀ او نۀ خوړل بيا پاڅيده او لاړه. دد ے نه پس رسول الله ﷺ تشريف راوړو ما د هغې ښځے حال حضرت ﷺ ته بيان كړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل څوك چه مبتلا وی په لونړو كښې (يعنی د هغۀ لونړه وی) پس هغه د هغوی سره نيكی كوی (هغه اوپالی د دين تعليم پرے اوكړی او د نيك سړی سره ئے نكاح اوكړی) نو هغه به د قيامت په ورځ دده ُ پرده وی د جهنم نه

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې ؓ نه روايت دے يو فقيرے ښځے دوه لونړه رااخستے وے او ځما خواله راغله ما هغې له درے كهجورے ورکړے هغې هرے يوے لور له يوه يوه كهجوره ورکړه او دريمه كجهوره ئے د خوراك دپاره د خلے سره اولګوله په دے كښې د هغې لونړو (هغه كجهوره هم اوغوښته د خوراك دپاره هغې هغه كجهوره كومه چه هغې پخپله خوړل غوښتله دوه ټکړے كړه (او دواړو ته ئے ورکړه) زۀ دد ے حال په ليدو باند ے حيرانه شوم. ما هغه څۀ چه هغې كړی وو رسول الله ﷺ ته بيان كړل

سړی پښان د ے د بدو په صحبت كښې نقصان ضرور وی. كچړے بدی نۀ ايزده كوی نو بيا هم د هغې نقصان ضرور وی. او لاند ے درجه د بد صحبت داده چه د نيكی او عبادت هغه خوند ئے كميږی. نووی ؒ وائی دد ے حديث نه دا معلومه شوه چه مشك پاك دی او په دی باند ے د علماؤ اجماع ده ليكن د شيعه ګانو نه دد ے پليتوالے نقل كړے شوے د ے او د هغوی قول د حديث په رو او اجماع سره باطل د ے او هميشه مسلمانان په مشكو لګولو او خرخولو راغلي دی. انتهی مختصراً

وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ اللهَ قَدْ أَوْجَبَ لَهَا بِهَا الْجَنَّةَ أَوْ أَعْتَقَهَا بِهَا مِنَ النَّارِ

حضرت ﷺ اوفرمائیل په دے سبب سره هغے له جنت واجب کړو. یائے هغے لره د جهنم نه آزاده کړه.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ وَضَمَّ أَصَابِعَهُ

د انس بن مالک نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه دوه جینکو لره اوساتی د هغوی د خوانیدو پورے. د قیامت په ورځ به زهٔ او هغوی په دے شان سره راځو او حضرت ﷺ ګوتو لره یو ځائے کړے (یعنی ځما او د هغهٔ به ملګرتیا وی د قیامت په ورځ مسلمان له پکار دی چه کهٔ خپله د هغهٔ جینکئ وی خو خیر او کهٔ نهٔ وی نو یو دوه یتیمانے جینکئ د اوپالی او چه خوانے شی نو په نکاح د ئے ورکړی دد دے دپاره چه د حضرت ﷺ ملګرتیا ورته نصیب شی.

بَابُ فَضْلِ مَنْ يَمُوتُ لَهُ وَلَدٌ فَيَحْتَسِبَهُ

باب: د چا چه بچے مړ شی او هغه صبر اوکړی، د هغهٔ فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَمُوتُ لِأَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د کوم مسلمان چه درے بچی مړهٔ شی په هغهٔ به د جهنم اور نهٔ لګی مګر د قسم کوزولو دپاره (یعنی الله تعالی چه کوم فرمائیلی دی چه ستاسو نه څوک داسے نشته دے چه په دوزخ به نهٔ تیریږی. دد دے وجے نه به د هغهٔ تیریدل په دوزخ باندے وی خو د څهٔ قسم عذاب به ورته نهٔ وی.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ مَالِكٍ وَبِمَعْنَى حَدِيثِهِ إِلَّا أَنَّ فِي حَدِيثِ سُفْيَانَ فَيَلِجَ النَّارَ إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ

د زهری نه د مالک په اسناد سره روایت دے او ددهٔ د حدیث مضمون مروی دے. مګر د سفیان په حدیث کښ د يَلِجَ لفظ دے. یعنی په اُور کښ به نهٔ داخلیږی مګر د قسم د پوره کولو دپاره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ لَا يَمُوتُ لِإِحْدَاكُنَّ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَحْتَسِبَهُ إِلَّا دَخَلَتِ الْجَنَّةَ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ أَوِ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د انصارو ښځو ته اوفرمائیل. ستاسو نه چه د چا درے بچی مړهٔ شی او هغه د الله د رضا دپاره صبر اوکړی نو هغه به جنت ته ځی. یوے ښځے اووے یا رسول الله کهٔ دوه بچی ئے مړهٔ شی. حضرت ﷺ اوفرمائیل ددوه هم دا

اثْنَيْنِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ أَوِ اثْنَيْنِ

حکم دے

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيثِكَ فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ يَوْمًا نَأْتِيكَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ اللّٰهُ قَالَ اجْتَمِعْنَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا فَاجْتَمَعْنَ فَأَتَاهُنَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللّٰهُ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْكُنَّ مِنْ امْرَأَةٍ تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلَاثَةً إِلَّا كَانُوا لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ فَقَالَتْ امْرَأَةٌ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ خواله یوه ښځه راغله او عرض ئے اوکړو یا رسول الله! ستاسو ټولے خبرے سړی اوری نو زمونږ دپاره هم یوه ورځ مقرر کړئ چه په هغه ورځ مونږ ستاسو خواله راځو او تاسو مونږ ته هغه خبرے ایزده کوئ کومے چه الله پاك تاسو ته ایزده کړی دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل په فلانئ ورځ تاسو جمع کیږئ هغو راجمع شوے او رسول الله ﷺ د هغوی خواله تشریف راوړو. بیائے اوفرمائیل ستاسو نه چه کومے د خان نه مخکښ درے بچی اولیږل (یعنی درے بچی د هغے مړهٔ شول) نو هغه به د هغے پرده شی د جهنم نه یوے ښځے اووے. او دوه بچی، دوه بچی، دوه بچی. حضرت ﷺ اوفرمائیل او دوه بچی، دوه بچی، دوه بچی (یعنی د هغوی هم دغه حکم دے)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ ثَلَاثَةٌ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے په دے کښ دا زیاته ده وائی چه دغه درے بچی عقلمند شوی نهٔ وی

عَنْ أَبِي حَسَّانَ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي هُرَيْرَةَ إِنَّهُ قَدْ مَاتَ لِي ابْنَانِ فَمَا أَنْتَ مُحَدِّثِي عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحَدِيثٍ تُطَيِّبُ بِهِ أَنْفُسَنَا عَنْ مَوْتَانَا قَالَ قَالَ نَعَمْ صِغَارُهُمْ دَعَامِيصُ الْجَنَّةِ يَتَلَقَّى أَحَدُهُمْ أَبَاهُ أَوْ قَالَ أَبَوَيْهِ فَيَأْخُذُ بِثَوْبِهِ أَوْ قَالَ بِيَدِهِ كَمَا آخُذُ أَنَا بِصَنِفَةِ ثَوْبِكَ هٰذَا فَلَا يَتَنَاهَى أَوْ قَالَ فَلَا يَنْتَهِي حَتَّى يُدْخِلَهُ اللّٰهُ وَأَبَاهُ الْجَنَّةَ

وَفِي رِوَايَةِ سُوَيْدٍ حَدَّثَنَا أَبُو السَّلِيلِ

د ابوحسان رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه ما ابوهریره ته اووے خما دوه خامن مړهٔ شول او ته نهٔ بیانوے ماته حدیث د رسول الله ﷺ چه په هغے سره خما زړهٔ خوشحاله شی. راوی وائی نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل ډیره ښه ده واړهٔ بچی خو د جنت چینجی دی (یعنې د جنت نه به نهٔ لرے کیږی لکه څنګه چه د اوبو چینجی د اوبو نه جدا کیدے نهٔ شی) هغه به د خپلو پلرونو سره میلاویږی یا د مور پلار سره او د هغوی کپړه به نیسی یا لاس لکه ما چه دا وخت ستا د کپړے یو طرف نیولے دے پس نهٔ به ئے پریږدی. تردے پورے چه هغوی او د هغوی پلاران به په جنت کښ داخل کړی

عَنِ التَّيْمِيِّ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ فَهَلْ سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا تُطَيِّبُ بِهِ أَنْفُسَنَا عَنْ مَوْتَانَا قَالَ نَعَمْ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَتِ امْرَأَةٌ النَّبِيَّ ﷺ بِصَبِيٍّ لَهَا فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللهِ ادْعُ اللهَ لَهُ فَلَقَدْ دَفَنْتُ ثَلَاثَةً قَالَ دَفَنْتِ ثَلَاثَةً قَالَتْ نَعَمْ قَالَ لَقَدِ احْتَظَرْتِ بِحِظَارٍ شَدِيدٍ مِنَ النَّارِ قَالَ عُمَرُ مِنْ بَيْنِهِمْ عَنْ جَدِّهِ وَقَالَ الْبَاقُونَ عَنْ طَلْقٍ وَلَمْ يَذْكُرُوا الْجَدَّ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِابْنٍ لَهَا فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ يَشْتَكِي وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْهِ قَدْ دَفَنْتُ ثَلَاثَةً قَالَ لَقَدِ احْتَظَرْتِ بِحِظَارٍ شَدِيدٍ مِنَ النَّارِ قَالَ زُهَيْرٌ عَنْ طَلْقٍ وَلَمْ يَذْكُرِ الْكُنْيَةَ

بَابُ إِذَا أَحَبَّ اللهُ عَبْدًا حَبَّبَهُ أَهْلَ السَّمَاءِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَقَالَ إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ قَالَ فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُولُ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ قَالَ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي

د تمیمی نه په دے اسناد سره روایت دے په دے کښې دی چه ابوحسان اووے آیا تا د رسول الله ﷺ نه څۀ حدیث داسې اوریدلے دے چه په هغې سره زموږ زړۀ خوشحاله شی د خپلو مړو په باره کښې.

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه یوے ښځې یو بچے رااخستے وو او رسول الله ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو اے د الله نبیؐ! دُعا اوغواړه ددۀ دپاره (د عمر د زیاتیدو) ولې چه ما درے بچی خخ کړی دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل تا درے بچی خخ کړی دی هغې اووے آو یعنې واړۀ مړۀ شوی دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل تا یوه مضبوطه پرده کړے ده د جهنم نه

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه یوه ښځه د رسول الله ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو چه یا رسول اللهؐ ځما ددے بچی دپاره دُعا اوفرمایئ هغه بیمار دے او زۀ یریږم چه چرته مړ نۀ شی ځکه چه ما درے بچی خخ کړی دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل تا یو مضبوط بند وهلے دے جهنم ته

باب: هر کله چه خداوند کریم د چا سره محبت کوی نو د اسمان فرښتے هم د هغۀ سره محبت کوی

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه بیشکه الله تعالی چه د یو بنده سره محبت کوی نو جبرائیلؑ رااغواړی او ورته اووائی چه زۀ محبت کوم د فلانی بنده سره نو تۀ هم ورسره محبت اوکړه. بیا جبرائیلؑ محبت کوی د هغۀ سره او په اسمان کښې آواز اوکړی چه الله تعالی محبت کوی د فلانی سره. نو تاسو هم ورسره محبت کوئ بیا اسمان والا فرښتے د هغۀ سره

الْأَرْضِ وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُولُ إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ قَالَ فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللَّهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ قَالَ فَيُبْغِضُونَهُ ثُمَّ تُوضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ

محبت کوی. دده نه پس د زمکے والا په زړونو کښې هغه مقبول شی. او هر کله چه الله تعالی دشمنی اوساتی د یو بنده سره نو جبرائیل ؑ رااوغواړی او ورته اوفرمائی چه زهٔ د فلانی دشمن یم تهٔ هم د هغهٔ دشمن شه پس هغه هم د هغهٔ دشمن شی بیا په اسمان والاؤ کښې آواز اوکړی چه د الله تعالی د فلانی سره دشمنی ده نو تاسو هم ورسره دشمنی اوساتئ. نو هغه هم ورسره دشمنان شی. دده نه پس د زمکے والاؤ په زړهٔ کښې د هغهٔ دشمنی ځائے اونیسی (یعنی په زمکه کښې هم چه د الله کوم نیك بندیگان یا فرښتے دی هغه ددهٔ دښمنانے شی ربښتیا دے. از خدا گشتی همه خیز از تو گشت.

عَنْ سُهَيْلٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ حَدِيثَ الْعَلَاءِ بْنِ الْمُسَيَّبِ لَيْسَ فِيهِ ذِكْرُ الْبُغْضِ

د سهیل نه په دے اسناد سره حدیث روایت دے مگر د علاء بن مسیب په حدیث کښې د بغض ذکر نشته

عَنْ أَبِي صَالِحٍ قَالَ كُنَّا بِعَرَفَةَ فَمَرَّ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَهُوَ عَلَى الْمَوْسِمِ فَقَامَ النَّاسُ يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ فَقُلْتُ لِأَبِي يَا أَبَتِ إِنِّي أَرَى اللَّهَ يُحِبُّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ قَالَ وَمَا ذَاكَ قُلْتُ لِمَا لَهُ مِنَ الْحُبِّ فِي قُلُوبِ النَّاسِ فَقَالَ بِأَبِيكَ أَنْتَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ جَرِيرٍ عَنْ سُهَيْلٍ

د ابوصالح نه روایت دے وائی چه مونږ په عرفات کښې وو نو عمربن عبد العزیز چه د حاجیانو سردار وو رااووتو. خلق د هغهٔ د لیدو دپاره اودریدو ما خپل پلار ته اووے. اے بابا جی ځما خیال دے چه الله تعالی خوښ کړے دے عمر بن عبد العزیزؒ لره. پلار مے تپوس اوکړو چه ولے؟ ما اووے ځکه د خلقو په زړونو کښې د هغوی محبت پریوتے دے. هغوی اووے قسم دے ستا د پلار (په پیدا کونکی) چه ما د ابوهریرهؓ نه اوریدلی دی چه هغه حدیث لوستلو د رسول الله ﷺ او بیائے بیان کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته ذکر شو.

بَابُ الْأَرْوَاحُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ

باب : د روحونو ټولی ټولی دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَرْوَاحُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ فَمَا تَعَارَفَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی روحونه ټولی ټولی دی پس چا چه په دے کښې یو بل پیژندو هغه به دلته هم

مِنْهَا ائْتَلَفَ وَمَا تَنَاكَرَ مِنْهَا اخْتَلَفَ

يو بل پيژني. او څوک چه د يو بل نه جُدا وي نو دلته به هم جُدا وي[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِحَدِيثٍ يَرْفَعُهُ قَالَ النَّاسُ مَعَادِنُ كَمَعَادِنِ الْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقُهُوا وَالْأَرْوَاحُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ فَمَا تَعَارَفَ مِنْهَا ائْتَلَفَ وَمَا تَنَاكَرَ مِنْهَا اخْتَلَفَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي د خلقو هم مثال داسے دے لکه د سروزرو او سپينو زرو دکانونو. د جاهليت په زمانه کښې چه کوم خلق غوره دي (يعني څوک چه په هغه وخت کښې نيك ذاته او خوش اخلاقه او بهادر وو په اسلام کښې هم هغسے دي) هر کله چه پوهه شو او د روحونو تولى تولى جدا دى. پس چه د کومو روحونو د يو بل سره هلته پيژندګلي وه په دنيا کښې هم په هغوى کښې محبت شو. او څوک چه هلته غير وو هغه دلته هم غير پاتے وو.

بَابُ الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ

باب : سړے به د هغه چا سره وي چه د هغۀ سره ئے دوستي وي

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ أَعْرَابِيًّا قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَعْدَدْتَ لَهَا قَالَ حُبَّ اللهِ وَرَسُولِهِ قَالَ أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ

ذ انس بن مالكؓ نه روايت دے چه يو بانډيچي د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو چه قيامت کله دے. حضرتﷺ ورته اوفرمائيل چه تا د قيامت دپاهر څۀ سامان تيار کړے دے؟ هغۀ اووے د الله او هغۀ د رسول محبت. حضرتﷺ ورته اوفرمائيل تۀ به د هغه چا سره ئے د چا سره چه د محبت دے (اګر که عملونه کم وي)

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ وَمَا أَعْدَدْتَ لَهَا فَلَمْ يَذْكُرْ كَبِيرًا قَالَ وَلَكِنِّي أُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ قَالَ

د انس نه روايت دے چه يو سړي اووے. يا رسول اللهﷺ ! قيامت به کله وي. حضرتﷺ اوفرمائيل . تا د هغے دپاره څۀ سامان تيار کړے دے؟ نو هغه بانډيچي ډير سامان بيان نۀ کړو او اوئے وئيل زۀ

[1] د پيژندګلو نه دا غرض دے چه په صفاتو کښې يو شان وي يا په سعادت او شقاوت کښې موافق وي. غرض دا چه ښه روحونه دنيا کښې هم په خپلو کښې دوستان وي (او هلته به هم) او بد روحونه د بدو روحونو.



فَأَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَعْرَابِ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ مَا أَعْدَدْتُ لَهَا مِنْ كَثِيرٍ أَحْمَدُ عَلَيْهِ نَفْسِي

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ وَمَا أَعْدَدْتَ لِلسَّاعَةِ قَالَ حُبَّ اللَّهِ وَرَسُولِهِ قَالَ فَإِنَّكَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ قَالَ أَنَسٌ فَمَا فَرِحْنَا بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَرَحًا أَشَدَّ مِنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّكَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ قَالَ أَنَسٌ فَأَنَا أُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ فَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ مَعَهُمْ وَإِنْ لَمْ أَعْمَلْ بِأَعْمَالِهِمْ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ أَنَسٍ فَأَنَا أُحِبُّ وَمَا بَعْدَهُ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ بَيْنَمَا أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَارِجَيْنِ مِنَ الْمَسْجِدِ

محبت لرم د اللهؓ او د هغهٔ د رسولؐ سره[1]

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه بانديچے د رسول اللهؐ خواله راغے، مخکښې حدیث، د پورتنی حدیث پشان دے. مګر په دے کښې دادی چه هغهٔ اووے ما د قیامت دپاره څهٔ لوئی سامان نهٔ دے کړے چه په هغے خپل صفت اوکړم.

د انس بن مالکؓ نه روایت دے وائی چه یو سړے د رسول اللهؐ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه یا رسول اللهؐ قیامت کله دے؟ حضرتؐ اوفرمائیل تا د قیامت دپاره څهٔ تیار کړی دی هغهٔ اووے الله تعالی او د هغهٔ د رسول محبت لره. حضرتؐ اوفرمائیل نو تهٔ به د هغه چا سره ئے د چا سره چه د محبت دے. انسؓ وائی د اسلام نه پس مونږ په بل یو څیز سره دومره نهٔ یو خوشحاله شوی څومره چه د دے حدیث په اوریدو سره خوشحاله شو. انس وائی زهٔ خو محبت لرم د الله سره او د هغهٔ د رسول سره او د ابوبکرؓ او عمرؓ سره. او څما اُمید دے چه د قیامت په ورځ به زهٔ د هغوی سره یم اګر چه ما د هغوی پشان اعمال نهٔ دی کړی.

انس بن مالك د نبیؐ نه حدیث روایت کړے دے. په دے حدیث کښې د انسؓ دا قول ذکر کړے شوے نهٔ دے چه زهٔ محبت ساتم او د هغے نه روستو والاقول

د انس بن مالکؓ نه روایت دے وائی چه زهٔ او رسول اللهؐ دواړه د جماعت نه وتلی وو چه په دے کښې یو سړے د سوری په خوا کښې

---

[1] نوویؒ وائی: الله او د هغهٔ د رسولؐ د محبت فضیلت دا دے چه د دے دواړو په حکم باندے عمل اوکړی او د کومے نه چه ئے منع کړے دے د هغے نه قلار شی او په شرع باندے قائم پاتے شی. او په محبت کښې د صالحینو دا ضروری نهٔ ده چه د هغوی برابر اعمال اوکړی ورنه هغه خو به د هغوی په مثل شی بیت

أُحِبُّ الصَّالِحِينَ وَلَسْتُ مِنْهُمْ لَعَلَّ اللَّهَ يَرْزُقُنِي صَلَاحًا

فَلَقِينَا رَجُلًا عِنْدَ سُدَّةِ الْمَسْجِدِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَعْدَدْتَ لَهَا قَالَ فَكَأَنَّ الرَّجُلَ اسْتَكَانَ ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَعْدَدْتُ لَهَا كَبِيرَ صَلَاةٍ وَلَا صِيَامٍ وَلَا صَدَقَةٍ وَلَكِنِّي أُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ قَالَ فَأَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ

مونږ ته میلاؤ شو او عرض ئے اوکړو یا رسول اللهؐ قیامت به کله وی حضرتؐ اوفرمائیل تا څۀ سامان تیار کړے دے د قیامت دپاره؟ دا سړے په اوریدو هغه سړے غلے شو. بیائے اووے یا رسول اللهؐ مونږ خو څۀ ډیر مونځونه او روژه او صدقه تیار کړے نۀ ده البته زۀ محبت لره د الله او د رسول د الله سره. حضرت اوفرمائیل ته به هم د هغه چا سره ئے د چا سره چه ته محبت لرے.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ

حضرت انسؓ د نبیؐ نه د پورتنی حدیث پشان حدیث روایت کړے دے.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ

حضرت انسؓ د نبیؐ نه په دے اسناد سره روایت کړے دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تَرَى فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوْمًا وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے چه یو سړے رسول اللهؐ له راغے او عرض ئے اوکړو یا رسول اللهؐ! تاسو څۀ فرمایئ د هغه سړی په باره کښې چه هغه محبت لری د یو قوم سره او د هغه قوم پشان عمل نۀ کوی. حضرتؐ اوفرمائیل سړے به د هغه چا سره وی د چا سره چه محبت لری.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

عبد اللهؓ د نبیؐ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړو.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ جَرِيرٍ عَنِ الْأَعْمَشِ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے چه یو سړے د رسول اللهؐ خواله راغے الخ. مخکښې حدیث ئے بیان کړو څنګه چه جریر د اعمش نه روایت کړو.

بَابُ الثَّنَاءِ الصَّالِحِ لَا تَضُرُّهُ

باب : د نیک سړی صفت د هغۀ دپاره ضرر ورکونکے نۀ دے

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابوذرؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهؐ ته اووئیلے شو چه تاسو



عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنَ الْخَيْرِ وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ قَالَ تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ

څهٔ فرمايئ؛ د هغه سړي په باره کښې چه هغه ښهٔ عملونه کوي او خلق د هغهٔ تعريف کوي. حضرت ﷺ اوفرمائيل دا بالفعل مؤمن لره د خوشحالئ خبر دے (او په اٰخرت کښې چه کوم ثواب او اجر دے هغه خو جدا دے دا خو په دنيا کښې خوشحالي ده د هغهٔ دپاره چه خلق د هغهٔ تعريف کوي)

عَنْ أَبِي عِمْرَانَ الْجَوْنِيِّ بِإِسْنَادِ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ بِمِثْلِ حَدِيثِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِهِمْ عَنْ شُعْبَةَ غَيْرِ عَبْدِ الصَّمَدِ وَيُحِبُّهُ النَّاسُ عَلَيْهِ وَفِي حَدِيثِ عَبْدِ الصَّمَدِ وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ كَمَا قَالَ حَمَّادٌ

د ابو عمران جوني نه د حماد په اسناد سره د پورتني حديث پشان روايت دے . سوا ددے نه چه د شعبه نه د عبد الصمد نه علاوه د باقي راويانو په حديث کښې دي چه خلق ددهٔ سره محبت کوي او د عبدالصمد په روايت کښې هم دا دي چه خلق ددهٔ تعريف کوي .

كِتَابُ الْقَدَرِ

د تقدير مسئلې

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا ثُمَّ يَكُونُ فِي ذٰلِكَ عَلَقَةً مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ يَكُونُ فِي ذٰلِكَ مُضْغَةً مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ يُرْسَلُ الْمَلَكُ فَيَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ وَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ بِكَتْبِ رِزْقِهِ وَأَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ فَوَالَّذِي لَا إِلٰهَ غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتّٰى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتّٰى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا

د عبد اللهؓ نه روايت دے وائي چه حديث بيان کړے دے مونږ ته رسول اللهﷺ او هغه رښتونے رښتيا کړے شوے دے. بيشکه ستاسو نه د هر يو بنيادم نطفه د هغهٔ د مور په ګېډه کښې څلوېښت ورځے جمع کيږي بيا په څلوېښت ورځو کښې چکه وينه شي بيا په څلوېښتو ورځو کښې د غوښے يوه ټکړه شي. بيا الله تعالى فرښتے رااوليږي چه په هغے کښې روح اوپوکي. او د څلورو خبرو ورته حکم شوے وي چه ددهٔ روزي اوليکي (چه محتاجه به وي يا مالدار) او د هغهٔ عمر اوليکي (چه څومره به ژوندے وي) او د هغهٔ عمل اوليکي (چه څهٔ به کوي) او دا اوليکي چه نيك بخته (جنتي) يا بدبخته (دوزخي) به وي. پس زهٔ قسم خورم په هغه ذات چه د هغهٔ نه سوا بل معبود نشته چه بيشکه ستاسو خلقو نه چه څوك د جنتيانو کارونه کوي تردے پورے چه د هغهٔ او د جنت په مينځ کښې د يو لاس هومره فرق پاتے شي (يعني ډير نږدے دے شي) بيا د تقدير ليکلي په هغهٔ باندے غالب شي نو د دوزخيانو کارونه شروع کړي او بيا دوزخ ته لاړ شي. او هميشه به يو سړے تول عمر د دوزخيانو کار کوي تردے پورے چه د هغهٔ او د دوزخ په مينځ کښې د يو لاس هومره فرق پاتے شي. بيا د تقدير ليکلي په هغهٔ باندے غالب شي او د جنتيانو په کار شروع اوکړي او جنت ته لاړ شي [1]

---

[1] په دے حديث کښې د انسان د ابتداء او انتهاء او د تقدير بيان دے. عام خلق ددے په مطلب خصوصاً د تقدير په راز نهٔ شي پوهيدے. په دے باندے د پوهيدو دپاره ډير علم او صفا ذهن پکار دے. ليکن دومره معلومول پکار دي چه هر کله خاتمے ته خبره پاتے شوه نو څوك دِ په خپل عُمر او عبادت باندے فخر نهٔ کوي په دے وجه چه د خاتمے حال څهٔ معلم دے چه څهٔ به کيږي. او هيڅ يو ګنهګار له يقيني دوزخي ګنړل نهٔ دي پکار کيدے شي چه د مرګ په وخت د هغهٔ خاتمه په خير شي. خنے ناپوهه خلق وائي چه هر کله

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ فِي حَدِيثِ وَكِيعٍ إِنَّ خَلْقَ أَحَدِكُمْ يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً وَقَالَ فِي حَدِيثِ مُعَاذٍ عَنْ شُعْبَةَ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً أَرْبَعِينَ يَوْمًا وَأَمَّا فِي حَدِيثِ جَرِيرٍ وَعِيسَى أَرْبَعِينَ يَوْمًا

د اعمش نه په دے اسناد سره روایت دے. دوکیع په حدیث کښې دی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل. په تاسو کښې د هر یو تخلیق د مور په کیډه کښې څلویښت ورځے کیږی او معاذ چه د شعبه نه کوم حدیث روایت کړو په هغے کښې دی. څلویښت شپے یا څلویښت ورځے. او د جریر او د عیسیٰ په حدیث کښې دی څلویښت ورځے

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ الْمَلَكُ عَلَى النُّطْفَةِ بَعْدَ مَا تَسْتَقِرُّ فِي الرَّحِمِ بِأَرْبَعِينَ أَوْ خَمْسَةٍ وَأَرْبَعِينَ لَيْلَةً فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ فَيُكْتَبَانِ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَذَكَرٌ أَوْ أُنْثَى فَيُكْتَبَانِ وَيُكْتَبُ عَمَلُهُ وَأَثَرُهُ وَأَجَلُهُ وَرِزْقُهُ ثُمَّ تُطْوَى الصُّحُفُ فَلَا يُزَادُ فِيهَا وَلَا يُنْقَصُ

د حذیفه بن اُسید نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه فرښته د نطفے خواله ځی هر کله چه هغه په بچه دانۍ کښې ځائے اونیسی د څلویښتو یا پنځهٔ څلویښتو ورځو نه پس اووائی اے ربه دے بدبخت اولیکم او کهٔ نیک بخت ئے اولیکم. پس چه پروردګار څهٔ اووائی هغه اولیکی.بیا اووائی سړے ئے اولیکم او کهٔ ښځه پس چه پروردګار څهٔ اووائی نو هغه اولیکی. او د هغهٔ عمل او عمر او روزی اولیکی. بیا کتاب اونغښتلے شی نهٔ په هغے کښې څهٔ څیز سوا کیږی او نهٔ کمیږی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ يَقُولُ الشَّقِيُّ مَنْ شَقِيَ فِي بَطْنِ أُمِّهِ وَالسَّعِيدُ مَنْ وُعِظَ بِغَيْرِهِ فَأَتَى رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لَهُ حُذَيْفَةُ بْنُ أَسِيدٍ الْغِفَارِيُّ فَحَدَّثَهُ بِذٰلِكَ مِنْ قَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ فَقَالَ وَكَيْفَ يَشْقَى رَجُلٌ بِغَيْرِ عَمَلٍ فَقَالَ لَهُ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے وائی چه بدبخت هغه دے چه هغه د خپلے مور د ګیډے نه بدبخته دے او نیک بخت هغه دے چه هغه د بل نه نصیحت اومومی. عامر بن وائله چه د عبد الله بن مسعودؓ نه دا واؤریدل نو د یو صحابی خواله راغے چه هغهٔ ته ئے حذیفه بن اُسیدؓ غفاریؓ وئیلو. او هغوی ته ئے دا حدیث بیان کړو او اوئے وئیل چه بغیر د عمل نه سړے څنګه بدبخته شی؟ ما اوریدلی

په خاتمه باندے خبره پاتے شوه نو په خوانۍ کښې عیش کول پکار دی او په بوډاوالی کښې به بیا توبه اوباسی. نو دا شیطان هغوی لره دهوکه ورکړے ده. په دے واسطه چه د بوډاوالی پورے د ژوندون د کوم ځائے نه یقین راغے. کیدے شی چه په خوانۍ کښې مرګ راشی بلکه هر دم مرګ په سر باندے ولاړ دے. عاقل بنیادم کچرے غور اوکړی نو هغهٔ لره هیڅ یو وخت د الله نه غافله کیدل لازم نهٔ دی خکه چه مونږ لره تن تنها واپسی ده. الهی پخپل کرم سره مونږ لره د نفس او شیطان د جال نه رااوباسه او زمونږ خاتمه په خیر کړه. آمین

تحفة الاخیار

الرَّجُلُ أَتَعْجَبُ مِنْ ذٰلِكَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا مَرَّ بِالنُّطْفَةِ ثِنْتَانِ وَأَرْبَعُونَ لَيْلَةً بَعَثَ اللهُ إِلَيْهَا مَلَكًا فَصَوَّرَهَا وَخَلَقَ سَمْعَهَا وَبَصَرَهَا وَجِلْدَهَا وَلَحْمَهَا وَعِظَامَهَا ثُمَّ قَالَ يَا رَبِّ أَذَكَرٌ أَمْ أُنْثَى فَيَقْضِي رَبُّكَ مَا شَاءَ وَيَكْتُبُ الْمَلَكُ ثُمَّ يَقُولُ يَا رَبِّ أَجَلُهُ فَيَقُولُ رَبُّكَ مَا شَاءَ وَيَكْتُبُ الْمَلَكُ ثُمَّ يَقُولُ يَا رَبِّ رِزْقُهُ فَيَقْضِي رَبُّكَ مَا شَاءَ وَيَكْتُبُ الْمَلَكُ ثُمَّ يَخْرُجُ الْمَلَكُ بِالصَّحِيفَةِ فِي يَدِهِ فَلَا يَزِيدُ عَلَى مَا أُمِرَ وَلَا يَنْقُصُ

دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو هر کله چه په نطفه باندے څلویښت او دوه شپے تیرے شی نو الله تعالی یوه فرښته راولیږی هغے ته نو هغه ددے صورت جوړ کړی او د هغے غوږونه ، سترګے او خرمن ، غوښه او هډوکی جوړ کړی بیا عرض اوکړی اے پروردګاره دا به سړے وی یا ښځه پس څهٔ چه پروردګار غواړی هغه حکم اوکړی او فرښته ئے اولیکی. بیا عرض اوکړی اے الله ددهٔ به عمر څومره وی پس چه څهٔ الله ته منظوره وی هغه حکم اوکړی او فرښته ئے اولیکی. بیا عرض اوکړی اے الله ددهٔ به رزق څنګه وی پس څهٔ چه د الله خوښه وی هغه حکم اوکړی او فرښته هغے لره اولیکی. بیا هغه فرښته هغه لیکلی په لاس بهر ته راووځی او د هغے نه نه څهٔ سوا کیږی او نهٔ کمیږی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ يَقُولُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے . او هغوی د عمرو بن حارث د حدیث پشان حدیث ئے بیان کړو.

عَنْ سَرِيحَةَ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ الْغِفَارِيِّ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُذُنَيَّ هَاتَيْنِ يَقُولُ إِنَّ النُّطْفَةَ تَقَعُ فِي الرَّحِمِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ يَتَصَوَّرُ عَلَيْهَا الْمَلَكُ قَالَ زُهَيْرٌ حَسِبْتُهُ قَالَ الَّذِي يَخْلُقُهَا فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَذَكَرٌ أَوْ أُنْثَى فَيَجْعَلُهُ اللهُ ذَكَرًا أَوْ أُنْثَى ثُمَّ يَقُولُ يَا رَبِّ أَسَوِيٌّ أَوْ غَيْرُ سَوِيٍّ فَيَجْعَلُهُ اللهُ سَوِيًّا أَوْ غَيْرَ سَوِيٍّ ثُمَّ يَقُولُ يَا رَبِّ مَا رِزْقُهُ مَا أَجَلُهُ مَا خُلُقُهُ ثُمَّ يَجْعَلُهُ اللهُ شَقِيًّا أَوْ سَعِيدًا

د ابوسریحه حذیفه بن اسید غفاری رضی الله عنه نه روایت دے ما د رسول الله ﷺ نه په خپلو دواړو غوږونو اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو نطفه د مور په ګیډه کښں د څلویښتو شپو پورے دغه شان پرته وی بیا فرښته هغے له راشی یعنی هغه فرښته چه هغه ددے نه صورت جوړ کړی بیا هغه وائی اے پروردګاره دا به سړے وی یا ښځه نو الله هغے لره سړے کړی یا ښځه. بیا وائی اے پروردګاره! دا به پوره وی یا ناقص. بیا الله هغے لره پوره کړی یا ناقص. بیا اووائی اے پروردګاره ددهٔ رزق څهٔ دے، ددهٔ عمر څومره دے، ددهٔ اخلاق څنګه دی بیا الله تعالی هغهٔ لره بدبخته کړی یا نیک بخت

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ الْغِفَارِيِّ صَاحِبِ

حذیفه بن أسید غفاری رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ملګری مرفوع

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ الْحَدِيثَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ أَنَّ مَلَكًا مُوَكَّلًا بِالرَّحِمِ إِذَا أَرَادَ اللهُ أَنْ يَخْلُقَ شَيْئًا بِإِذْنِ اللهِ لِبِضْعٍ وَأَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ

حديث بیان کړو چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یوه فرښته چه مؤکله ده په رَحِم هر کله چه الله تعالی څۀ پیدا کول غواړی په څلويښتو شپو باندے څو شپے روسته. بیانے بیان کړو هغه چه تیر شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَرَفَعَ الْحَدِيثَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ وَكَّلَ بِالرَّحِمِ مَلَكًا فَيَقُوْلُ أَيْ رَبِّ نُطْفَةٌ أَيْ رَبِّ عَلَقَةٌ أَيْ رَبِّ مُضْغَةٌ فَإِذَا أَرَادَ اللهُ أَنْ يَقْضِيَ خَلْقًا قَالَ قَالَ الْمَلَكُ أَيْ رَبِّ ذَكَرٌ أَوْ أُنْثَى شَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ فَمَا الرِّزْقُ فَمَا الْأَجَلُ فَيُكْتَبُ كَذَلِكَ فِي بَطْنِ أُمِّهِ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی په رحم باندے یوه فرښته مقرر کړے ده هغه وائی یا ربه اوس نطفه ده، وا رب اوس چکه وینه ده، اے ربه اوس د غوښے ټکړه ده. پس هر کله چه الله تعالی څۀ پیدا کول غواړی نو فرښته عرض اوکړی چه دا سړے دے یا ښځه نیك دے یا بد. ددۀ رزق څۀ دے ددۀ عمر څومره دے پس چه څۀ حکم اوشی هغسے اولیکلے شی د خپلے مور په ګیډه کښې.

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنَّا فِي جَنَازَةٍ فِي بَقِيعِ الْغَرْقَدِ فَأَتَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَعَدَ وَقَعَدْنَا حَوْلَهُ وَمَعَهُ مِخْصَرَةٌ فَنَكَّسَ فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِمِخْصَرَتِهِ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ إِلَّا وَقَدْ كَتَبَ اللهُ مَكَانَهَا مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَإِلَّا وَقَدْ كُتِبَتْ شَقِيَّةً أَوْ سَعِيدَةً قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَفَلَا نَمْكُثُ عَلَى كِتَابِنَا وَنَدَعُ الْعَمَلَ فَقَالَ مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيَصِيرُ إِلَى عَمَلِ أَهْلِ السَّعَادَةِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ فَسَيَصِيرُ إِلَى

د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه مونږ په بقیع کښې وو (چه د مدینے مقبره ده) د یوے جنازے سره په دے کښې رسول الله ﷺ تشریف راوړو او کیښناستو مونږ هم د هغوی نه چا پیره کیښناستو. د حضرت ﷺ سره نرۍ لخته وه. حضرت ﷺ سر ښکته کړے وو ناست وو او په لخته ئے په زمکه باندے کرښے راښکودلے. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل پتاسو کښې یو روح داسے نشته دے چه دهغۀ الله تعالی د استوګنے ځائے نۀ وی لیکلے په جنت کښې یا په دوزخ کښې. او دائے نۀ وی لیکلی چه هغه نیك بخت دے یا بد بخت دے یو سړی اووے یا رسول الله! بیا مونږ په خپلو لیکلو باندے ولے اعتماد نۀ کوو او عمل لره نۀ پریږدو (یعنی د تقدیر په مخکښې عمل بے فائدے دے څۀ چه په قسمت کښې وی هغه به ضرور کیږی) حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك چه د نیك بختو نه دے هغه به په جلتۍ د نیکۍ کارونه کوی او څوك چه د بد

عَمَلِ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ فَقَالَ اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ أَمَّا أَهْلُ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ أَهْلِ السَّعَادَةِ وَأَمَّا أَهْلُ الشَّقَاوَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ ثُمَّ قَرَأَ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى

بختو نه دے هغه به د بدئ کار په جلتئ کوی او اونے فرمائیل عمل کوئ هر یو ته آسانی ورکړے شوے ده لیکن نیکو لره آسانه وی د نیکو عملونه کول بیا حضرت ﷺ دا ایت اولوستو پس چا چه خیرات اوکړو او اویریدو د الله نه او غوره دین (یعنی اسلام) ئے ریتونے اوګڼړو پس زر ده چه آسان به کړو مونږ په هغهٔ باندے نیکی کول او هر هغه څوک چه خان ئے بخیل کړو او خان ئے بے پروا کړو او دروغژن ئے اوګڼړو غوره دین لره پس زر ده چه آسانه به کړو مونږ په هغهٔ باندے د کفر سخت لاره[1].

[1] صحابو ؓ دا اوګڼړله چه د تقدیر په مخکښ عمل بے فائدے څیز دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو غلط شوئ عمل کول د تقدیر مخالف نه دی خکه چه الله تعالی په عالم کښ څیزونه پیدا کړل او هر یو له ئے د بل سره ربط ورکړو. او د خپل حکمت موافق ئے خنے څیز لره د خنے څیز سبب اوګرخوو. لکه چه سترګے سبب دے د لیدلو. غوږونه سبب دے د اوریدلو. او زهر سبب دے د مرګ. دغه شان نیک عمل سبب دے د جنت او بد عمل سبب دے د دوزخ نو معلومه شوه چه عمل کول د تقدیر مخالف نه دے. دغه شان رزق مقدر دے او کسب کول د هغے سبب دے او هیڅوک دے لره د تقدیر مخالف نهٔ ګڼړی. غرض دا چه دے احادیثو د مخه د اهل سنتو عقیده ثابتیږی چه تقدیر حق دے او په تقدیر باندے ایمان راوړل واجب دی. او په دے کښ بحث او خبرے کول حرام دی خکه چه د بنیادم کمزورے عقل د تقدیر راز نهٔ شی پیژندے اکثر دهوکه کیږی. چا د حضرت علی کرم الله وجهه نه د تقدیر په باره کښ تپوس اوکړو هغوی اوفرمائیل چه په توره تیارهٔ شپه کښ په دریاب مهٔ ورګډیږه. یعنی د تقدیر راز معلومول د بنده په قدرت کښ نهٔ دی ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د تقدیر په بهروسه باندے کوشش او محنت پریخودل د اسلام ددین مخالف دی ولے چه حضرت ﷺ صحابو ته د کوشش او عمل کولو حکم اوفرمائیلو. ددین اسلام تعلیم داد ے چه د اسبابو په حاصلولو کښ د کومے پورے چه ممکنه وی او جائز وی کوشش اوشی او باوجود د هغه کوشش دِ په خپل تدبیر باندے غرور نهٔ کوی او د الله په تقدیر دِ بهروسه لری. زمونږ خو دا اعتقاد دے چه د دین اسلام په تعلیم کښ سراسر خوشحالی ده د قدر په دے مسئله کښ مخالفو فرقو ته اوګوری هر کله چه هغه ناکامه شی نو څورمه خفه وی او د خپلو اسبابو په خرابیدو باندے څومره خفګان کوی. خو مؤمنان څهٔ خفګان نهٔ کوی هغوی پوهیږی چه صرف په کوشش سره کامیابی نشته دے بلکه د الله تعالی تقدیر هم ضروری دے. او کوم خلق چه تقدیر نهٔ منی مونږ د هغوی سره داسے بحث کوو چه بنه ده کچرے تقدیر نهٔ وے نو په هر سبب باندے مسبب کیدل پکار دی حالانکه د هیڅ یو سبب په دنیا کښ دا حال نهٔ دے چه مسبب د هغے نه پس غلے پاتے شی. زهر خوری خو مری پرے نه. هیضه پرے راشی خو مری نه سخا بونی وی خو هیضه نهٔ وی اوبهٔ خرابے وی خو وباء نهٔ راخی اوبهٔ او هوا دواړه صفا وی خو هیضه راشی. هیڅ یوه دوائی د یو اثر همیشه سبب نهٔ دے مثلاً کونینو سره همیشه تبه نهٔ بنه کیږی په کافور سره همیشه وباء ته فائده نهٔ راخی بلکه مونږ دا وایو چه کوم سبب د عوامو په نظر کښ ډیر یقینی دے هغه هم همیشه مسبب لره مسلم نهٔ دے. مثلاً اُور همیشه سوزول نهٔکوی. لکه یو قسم تیل پرے اولګوی یا کهٔ لوند لرګے سیزے نو نهٔ سوزی. هغه خلق دا وائی چه دلته یو مانع موجود دے. مونږ دا جواب ورکوو چه علاوه ددغه

عَنْ مَنْصُورٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فِي مَعْنَاهُ وَقَالَ فَأَخَذَ عُودًا وَلَمْ يَقُلْ مِخْصَرَةً وَقَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ فِي حَدِيثِهِ عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د منصور نه په دے اسناد سره د پورتنی حديث هم معنی حديث روایت دے صرف په دے کښې د مخصره په ځائے د عُود (لرګی) لفظ راغلے دے. ابن ابی شيبه په خپل حديث کښې چه د ابوالاحوص نه ئے روایت کړے دے ، وئیلی دی چه بیا رسول الله ﷺ اولوستلو

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ جَالِسًا وَفِي يَدِهِ عُودٌ يَنْكُتُ بِهِ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ نَفْسٍ إِلَّا وَقَدْ عُلِمَ مَنْزِلُهَا مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ فَلِمَ نَعْمَلُ أَفَلَا نَتَّكِلُ قَالَ لَا اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ ثُمَّ قَرَأَ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى إِلَى قَوْلِهِ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى

د حضرت علیؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ يوه ورځ ناست وو او په لاس مبارك کښې ئے يو لرګے وو چه په هغے سره ئے په زمکه کرښے راښکودلے. حضرت ﷺ سر اوچت کړو او اوئے فرمائیل په تاسو کښې يو روح داسے نشته چه د هغۀ استوګنے ځائے معلوم شوے نۀ وی (يعنی د الله په علم کښې) چه په جنت کښې دے يا په جهنم کښې خلقو عرض اوکړو يا رسول الله! بيا مونږ عمل ولے نۀ كوو بهروسه ولے نۀ کوو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نه، عمل کوئ هر يو ته آسان کړے شوی دی هغه څۀ د څۀ د پاره چه پیدا شوے دے. بیا حضرت ﷺ دا ایت اولوستو فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى الخ (د دے ترجمه پورته ذکر شوے ده)

عَنْ مَنْصُورٍ وَالْأَعْمَشِ أَنَّهُمَا سَمِعَا سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ يُحَدِّثُهُ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ

د منصور او اعمش نه روایت دے چه هغوی دواړو اوریدلی دی د سعد بن عبيدهؓ نه چه حديث ئے بيانولو هغۀ د عبد الرحمٰن سلمی نه هغۀ د حضرت علیؓ نه هغوی د رسول الله ﷺ نه د پورتنی حديث پشان.

مانع نه نور هم په سوونو موانع راوتلی دی بیا یوازے اُور سوزول سبب څنګه اوګرځیدو. او موانع دومره قدر غیر محصور دی چه د هغے منضبط کول د غه شان د اسبابو په تسلسل باندے د علم محیط کیدل ګران دی. او کچرے صرف په سبب سره کار اوچلیږی نو پکار ده چه څۀ مسبب بالفعل موجود نۀ وی. ځکه چه د هغے کیدل موقوف دی د هغے په سبب کیدو باندے. بیا د هغے کیدل د هغے په سبب کیدو باندے پس د یو لړے غونډے خبرے کیدل موقوف دی په اسبابو او اُمور غیر متناهیه کیدو باندے. او اُمور غیر متناهیه په ژبه غیر متناهی کښې څنګه موندل کیدے شی اوس کچرے زمانه په ازل کښې غیر متناهی ده نو هر يو مسبب ئے واجب بالغیر دے او د هغے سبب به هم واجب بالغیر وی ولے چه هغه مسبب دے د بل سبب نور اسباب غیر متناهی دی ځکه چه زمانه ئے غیر متناهی فرض کړے ده پس واجب بالغیر اوموندے شو علاوه د واجب بالذات نه او دا نۀ شی کیدے چه ما بالغیر يا ما بالعرض علاوه د ما بالذات نه اوموندے شی. او هر کله چه ما بالذات اومنے نو تسلسل د اسبابو ختم شو او په مسبب کښې د ما بالذات د تاثیر نه څۀ مانع پاتے نۀ شو او د ټولو اسبابو تاثیر د دغے ما بالذات د مرضئ تابع پاتے شو او دغه عین ایمان دے.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ بَيِّنْ لَنَا دِينَنَا كَأَنَّا خُلِقْنَا الْآنَ فِيمَا الْعَمَلُ الْيَوْمَ أَفِيمَا جَفَّتْ بِهِ الْأَقْلَامُ وَجَرَتْ بِهِ الْمَقَادِيرُ أَمْ فِيمَا نَسْتَقْبِلُ قَالَ لَا بَلْ فِيمَا جَفَّتْ بِهِ الْأَقْلَامُ وَجَرَتْ بِهِ الْمَقَادِيرُ قَالَ فَفِيمَ الْعَمَلُ قَالَ زُهَيْرٌ ثُمَّ تَكَلَّمَ أَبُو الزُّبَيْرِ بِشَيْءٍ لَمْ أَفْهَمْهُ فَسَأَلْتُ مَا قَالَ فَقَالَ اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ

د جابرؓ نه روایت دے وائی چه سراقه بن مالك بن جعشم د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو یا رسول الله! زمونږ دین مونږ ته بیان کړه لکه چه مونږ اوس پیدا شو مونږ چه کوم عمل کوو نو دا دے مقصد دپاره چه د هغے په لیکلو قلم اُوچ شو او تقدیر جاری شو یا د هغه مقصد دپاره چه هغه وړاندے کیدلو والا (او د مخکښې نه ددے په نسبت څۀ قرار نۀ شی موندے. حضرت ﷺ اوفرمائیل نه بلکه ددے مقصد دپاره عمل کوئ چه د هغے په لیکلو قلم اوچ شی او تقدیر جاری شی. سراقه اووے بیا د عمل نه څۀ فائده ده. زبیرؓ وائی ابوالزبیرؓ څۀ خبره اوکړه چه په هغے زۀ پوهه نۀ شوم ما تپوس اوکړو (د خلقو نه چه څۀ ئے اووے) هغوی اووے عمل کول د هر سړی دپاره آسان کړے شو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْمَعْنَى وَفِيهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ عَامِلٍ مُيَسَّرٌ لِعَمَلِهِ

جابر بن عبد اللهؓ د رسول الله ﷺ نه د پورتنی حدیث هم معنی حدیث روایت کړو. او په دے کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. هر یو عمل کونکی دپاره د هغۀ عمل آسانیږی.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ أَعُلِمَ أَهْلُ الْجَنَّةِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ قَالَ فَقَالَ نَعَمْ قَالَ قِيلَ فَفِيمَ يَعْمَلُ الْعَامِلُونَ قَالَ كُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ

د عمران بن حصینؓ نه روایت دے وائی چه خلقو عرض اوکړو چه یا رسول الله! د جنت والاؤ او د دوزخ والاؤ دپاره معلومات شوے دے (د خداوند تعالی په دربار کښې) حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. خلقو اووے بیا عمل کولو والا عمل ولے کوی حضرت ﷺ اوفرمائیل د هر سړی دپاره هغه کار آسان کړے شوے دے د کوم دپاره چه پیدا شوے دے. اوس کچرے د هغۀ د لاسونو نه ښۀ کارونه کیږی نو امید کیدے شی چه د هغۀ په تقدیر کښې جنتی لیکلے شوے دے. او کچرے بدکارونه ئے د لاسه کیږی نو خیال کیدے شی چه د هغۀ په تقدیر کښې جهنمی کیدل لیکلی شوی دی. مونږ ته د تقدیر علم نشته حاصل دا چه زمونږ

اعمال کوم چه د تقدیر نه خارج دی هغه هم تقدیر الهی دے او عذاب و ثواب په هغه اختیار باندے دے کوم چه په دنیاوی اسبابو کښې موږ ته راکړے شوے دے. او چونکه د تقدیر پورے زموږ علم نهٔ شی رسیدے ځکه موږ تول کارونه پخپل اختیار سره کوو او د هغے د جزا او سزاء موندلو مستحق یو)

عَنْ يَزِيدَ الرِّشْكِ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ بِمَعْنٰى حَدِيثِ حَمَّادٍ وَفِي حَدِيثِ عَبْدِ الْوَارِثِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ

د یزید الرشك نه په دے اسناد سره د حمّاد د حدیث هم معنی حدیث روایت دے. او د عبد الوارث په حدیث کښې دی چه ما اووے یا رسول الله ؟

عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ الدِّيلِيِّ قَالَ قَالَ لِي عِمْرَانُ بْنُ الْحُصَيْنِ أَرَأَيْتَ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ الْيَوْمَ وَيَكْدَحُونَ فِيهِ أَشَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضَى عَلَيْهِمْ مِنْ قَدَرِ مَا سَبَقَ أَوْ فِيمَا يُسْتَقْبَلُونَ بِهِ مِمَّا أَتَاهُمْ بِهِ نَبِيُّهُمْ وَثَبَتَتِ الْحُجَّةُ عَلَيْهِمْ فَقُلْتُ بَلْ شَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضَى عَلَيْهِمْ قَالَ فَقَالَ أَفَلَا يَكُونُ ظُلْمًا قَالَ فَفَزِعْتُ مِنْ ذٰلِكَ فَزَعًا شَدِيدًا وَقُلْتُ كُلُّ شَيْءٍ خَلْقُ اللهِ وَمِلْكُ يَدِهِ فَلَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ فَقَالَ لِي يَرْحَمُكَ اللهُ إِنِّي لَمْ أُرِدْ بِمَا سَأَلْتُكَ إِلَّا لِأَحْزِرَ عَقْلَكَ إِنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ مُزَيْنَةَ أَتَيَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَا يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ الْيَوْمَ وَيَكْدَحُونَ فِيهِ أَشَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضَى فِيهِمْ مِنْ

د ابوالاسود دیلی نه روایت دے وائی چه ما ته عمران بن حصین اووے آیا ته څهٔ پوهه شوے نن چه د څهٔ دپاره خلقو عمل کولو او محنت مشقت ئے برداشت کولو هغه خبره فیصله شوه او تیر شو رومبی د تقدیر په رو سره یا مخے ته په راتلونکی حدیث او حجت د رسول الله ﷺ سره. ما اووے هغے خبرے فیصله او مونده او تیره شوه. عمران اووے نو بیا خو ظلم لازم راغے (ځکه چه الله تعالی هر کله د چا په تقدیر کښې جهنمی کیدل لیکلی وی نو بیا هغه دد ے خلاف څنګه عمل کولے شی) دد ے په اوریدو زهٔ ډیر ګهبراؤ شوم او ما اووے ظلم نهٔ دے دد ے وجے نه چه هر څیز د الله تعالی جوړ کړے شوے دے. او د هغهٔ ملك دے د هغهٔ نه څوك تپوس نهٔ شی کولے. او د خلقو نه البته تپوس کولے شی. عمران اووے الله د پتا باندے رحم اوکړی ما دا تپوس ستا د عقل د ازمائش دپاره اوکړو. دوه سړی د مزینے (یوه قبیله ده) د رسول الله ﷺ خوا له راغلل او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ! تاسو څهٔ فرمایئ چه نن د څهٔ دپاره چه خلق عمل کوی او مشقت کوی آیا د هغهٔ فیصله اوشوه. او په تقدیر کښې

قَدرٍ قَدْ سَبَقَ أَوْ فِيمَا يُسْتَقْبَلُوْنَ بِهِ مِمَّا أَتَاهُمْ بِهِ نَبِيُّهُمْ وَثَبَتَتِ الْحُجَّةُ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لَا بَلْ شَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضَى فِيهِمْ وَتَصْدِيقُ ذٰلِكَ فِي كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا فَأَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوَاهَا

هغه خبره تیره شوه یا آئنده کیدونکې ده د هغه حکم په رُو سره چه هغې لره پیغمبر اُخستې او راوړې نې دې او په هغوی باندې حجت ثابت شو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نه بلکه د هغې خبرې فیصله اوشوه او د هغې تصدیق د الله د کتاب نه کیږي. الله تعالی فرمائیلي دي قسم دې په روح باندې او قسم دې په هغه چا چه دې لره برابر کړې دې پس اوخودله ئې هغې ته بد والې او نیکي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ الزَّمَنَ الطَّوِيلَ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخْتَمُ لَهُ عَمَلُهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ الزَّمَنَ الطَّوِيلَ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ ثُمَّ يُخْتَمُ لَهُ عَمَلُهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ

د ابوهریره رض نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي یو سړې د یوې مودې پورې ښه کار کوي (یعنې د جنتیانو کار) بیا د هغهٔ خاتمه د دوزخیانو په کار باندې اوشي. او د یوې مودې پورې د جهنمیانو کار کوي او خاتمه ئې د جنتیانو په کار باندې اوشي.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فِيمَا يَبْدُوْ لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ فِيمَا يَبْدُوْ لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ

د سهل بن سعد ساعدي رض نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه یو سړې د خلقو په نظر کښې د جنتیانو پشان کار کوي او هغه جهنمي وي او یو سړې د خلقو په نظر کښې د دوزخیانو پشان کار کوي او هغه جنتي وي.

بَابُ حِجَاجِ آدَمَ وَمُوسَى عَلَيْهِمَا السَّلَامُ

باب: د حضرت آدم او حضرت موسیٰ علیهما السلام خبرې اترې

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى فَقَالَ مُوسَى يَا آدَمُ أَنْتَ أَبُوْنَا خَيَّبْتَنَا وَأَخْرَجْتَنَا مِنَ الْجَنَّةِ فَقَالَ لَهُ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى اصْطَفَاكَ اللهُ بِكَلَامِهِ وَخَطَّ لَكَ بِيَدِهِ

د ابوهریره رض نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه په حضرت آدم ع او حضرت موسیٰ ع کښې بحث راغې. حضرت موسیٰ ع ورته اووې. اې آدم ع ته زمونږ پلار ئې او تا مونږ محروم کړو او د جنت نه دې راویستو (د اوني په خوراك سره) حضرت آدم ع اووې ته موسیٰ ئې ته الله تعالی په خپل کلام

أَتَلُومُنِي عَلَى أَمْرٍ قَدَّرَهُ اللَّهُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي بِأَرْبَعِينَ سَنَةً فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى وَفِي حَدِيثِ ابْنِ أَبِي عُمَرَ وَابْنِ عَبْدَةَ قَالَ أَحَدُهُمَا خَطَّ وَقَالَ الْآخَرُ كَتَبَ لَكَ التَّوْرَاةَ بِيَدِهِ

سره خاص کړے ئې او تورات ئې ستا دپاره پخپل لاس سره لیکلے دے. ته ملامته کوې مالره په هغه امر باندې چه هغه الله تعالیٰ خما په قسمت کښې خما د پیدائش نه څلوېښت کاله مخکښې لیکلے وو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل پس آدمؑ غالب راغلے په موسیٰؑ باندې[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَحَاجَّ آدَمُ وَمُوسَى فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى فَقَالَ لَهُ مُوسَى أَنْتَ آدَمُ الَّذِي أَغْوَيْتَ النَّاسَ وَأَخْرَجْتَهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ فَقَالَ آدَمُ أَنْتَ الَّذِي أَعْطَاهُ اللَّهُ عِلْمَ كُلِّ شَيْءٍ وَاصْطَفَاهُ عَلَى النَّاسِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي بحث اوکړو ادمؑ او موسیٰؑ نو ادمؑ په موسیٰؑ باندې غالب شو موسیٰؑ اووے ته هغه ادمؑ ئې چه تا خطا کړے ده خلقو لره او د جنت نه دې راویستلي دي. ادم اووے ته هغه موسیٰ ئې چا لره چه الله تعالیٰ د هرے خبرے علم ورکړے دے او غوره کړے ئې دے په خلقو باندې په پیغمبرئ سره. موسیٰؑ اووے آو. آدمؑ اووے پس ته مالره ملامت

---

[1] الله تعالی تورات شریف لره پخپل لاس سره لیکلے دے په دے مقام باندې د اهل حدیثو دا مذهب دے چه د الله تعالی دواړه لاسونه دي او دواړه ښي دي او لاس په خپله ظاهري معنی باندې محمول دے. امام اعظمؒ په فقهه اکبر کښې وئیلي دي چه د لاس تاویل په نعمت او قدرت سره نه دي کول پکار ولے چه دا د معتزلو او قدریو قول دے. امام نووي چه کوم وائي چه دد ے ظاهر مراد نه دے نو د ظاهر نه ظاهر متعارف مقصود دے یعنې جسماني لاس لکه څنګه چه زمونږ لاس دے. دا بیشکه مراد نه دے. ولے چه د الله تعالی ذات او صفت د چا مخلوق د ذات او صفت سره مشابه کیدے نه شي. او دا مطلب نه دے چه د ظاهر لغوي معنی مراد نه ده. خکه چه کچرے د ظاهر لغوي معنی مراد نه شي نو په تاویل کونکو او اهل حدیثو کښې هیڅ فرق باقي پاتے نه شو. او ډیرو د حدیثو امامانو تصریح کړے ده چه ټول صفات الهي په ظاهر باندې محمول دي. نو د ید ترجمه په لاس سره او د وجه ترجمه په مخ سره او د عین ترجمه په سترګه سره او د قدم په خپو سره کولے شي او نه دے اختلاف کړے په دي کښې مګر هغه جاهل چه معاند دے او د سلفو په اقوالو باندې غور نه کوي او مونږ دے مسئلے لره په مفصل کتاب الانتهاء في الاستواء کښې بیان کړے ده. قاضي عیاضؒ وائي دا مباحثه په خپل ظاهر باندې محمول ده. او کیدے شي دا دواړه پیغمبران په یو ځائے کښې جمع شوي وي او د معراج په حدیث کښې د جناب رسول الله ﷺ ملاقات د نورو پیغمبرانو سره ثابت دے په آسمان کښې او بیت المقدس کښې نو دا امر بعید نه دے چه الله تعالی هغوي لره ژوندي ساتلي وي لکه د شهیدانو په باب کښې چه راغلي دي. او احتمال دے چه دا مباحثه د حضرت موسیٰ په ژوند کښې شوي وي او هغوي د الله نه دعا کړي وي چه دے د حضرت ادم سره میلاؤ کړي. او دا چه کوم حضرت ادم اووے چه دا څلوېښت کاله مخکښې خما د پیدائش نه خما په قسمت کښې لیکلے شوي وو. نو دا په تورات کښې راغلي دي. خکه چه تورات د حضرت ادم د پیدائش نه مخکښې څلوېښت کاله الله تعالی په خپل مقدس لاس سره لیکلے وو او د تقدیر لیکل ترے مراد نه دي. خکه چه تقدیر چه څۀ په حکم الهي کښې وي هغه خو ازلي وي. (نووي)

بِرِسَالَتِهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَتَلُومُنِي عَلَى أَمْرٍ قُدِّرَ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ

کوے په هغه خبره باندے چه هغه ځما د پیدائش نه مخکښ ځما په تقدیر کښ لیکلے شوے وه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى عَلَيْهِمَا السَّلَام عِنْدَ رَبِّهِمَا فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى قَالَ مُوسَى أَنْتَ آدَمُ الَّذِي خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِهِ وَنَفَخَ فِيكَ مِنْ رُوحِهِ وَأَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ وَأَسْكَنَكَ فِي جَنَّتِهِ ثُمَّ أَهْبَطْتَ النَّاسَ بِخَطِيئَتِكَ إِلَى الْأَرْضِ فَقَالَ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى الَّذِي اصْطَفَاكَ اللهُ بِرِسَالَتِهِ وَبِكَلَامِهِ وَأَعْطَاكَ الْأَلْوَاحَ فِيهَا تِبْيَانُ كُلِّ شَيْءٍ وَقَرَّبَكَ نَجِيًّا فَبِكَمْ وَجَدْتَ اللهَ كَتَبَ التَّوْرَاةَ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ قَالَ مُوسَى بِأَرْبَعِينَ عَامًا قَالَ آدَمُ فَهَلْ وَجَدْتَ فِيهَا وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى قَالَ نَعَمْ قَالَ أَفَتَلُومُنِي عَلَى أَنْ عَمِلْتُ عَمَلًا كَتَبَهُ اللهُ عَلَيَّ أَنْ أَعْمَلَهُ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي بِأَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه آدمؑ او موسیٰؑ جهګړه اوکړه د خپل پروردګار په ړاندې نو آدمؑ غالب شو په موسیٰؑ باندے. موسیٰؑ اووے ته هغه آدمؑ ئے چالره چه الله تعالی په خپل لاس سره جوړ کړے دے او خپل روح ئے پتا کښ پوکلے دے او په فرښتو باندے ئے تاته سجده اولګوله (یعنی د سلامۍ سجده نۀ د عبادت او د سلامۍ سجده هغه وخت جائز وه. پس زمونږ په دین کښ سوا د الله نه بل چا ته سجده کول حرام شو) او تا ته ئے په جنت کښ د اوسیدو ځائے درکړو. پس تا د خپلے خطا په وجه سره خلق زمکے ته راکوز کړو. آدمؑ اووے ته هغه موسیٰؑ ئے چه تالره الله تعالی غوره کړو په خپله پیغمبرۍ او خبرو سره. او تالره اللهؑ د تورات شریف تختۍ درکړے چه په هغے کښ د هرے خبرے بیان دے. او خپل خان ته ئے نږدے کړے ئے دپاره د جرګے او تاته څۀ پته ده چه الله تعالی تورات لره ځما د پیدا کیدو نه څومره موده مخکښ لیکلے دے. حضرت موسیٰؑ اووے څلویښت کاله مخکښ. آدمؑ اووے تا په تورات کښ نۀ دی لوستلی چه آدمؑ د خپل رب د فرمان خلاف او کړو او خطا شو. حضرت موسیٰؑ اووے ولے نه ما لوستلے دے. حضرت آدمؑ اووے بیا تۀ ما لره ولے ملامته کوے په هغه کار باندے چه هغه ځما په تقدیر کښ الله تعالی ځما د پیدا کیدو نه څلویښت کاله مخکښ لیکلے دے. رسول اللهﷺ فرمائیلی دی پس آدمؑ غالب راغے په موسیٰؑ باندے[1].

[1] نوويؒ وئیلی دی کچرے څوك زمونږ نه ګناه او کړی او بیا دغه جواب اوکړی کوم چه حضرت آدمؑ ورکړو نو ولے په دے سره ملامته او انجام د هغۀ ښۀ کیږی؟ جواب داد ےچه نۀ ښه کیږی. ولے چه هغه په دنیا کښ دےچه د تکلیف کور دے. او آدم خو وفات شوے وو او د هغۀ ګناه الله تعالی بخښلے وه په دے وجه په هغۀ باندے ملامته پاتے نۀ شوه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى فَقَالَ لَهُ مُوسَى أَنْتَ آدَمُ الَّذِي أَخْرَجَتْكَ خَطِيئَتُكَ مِنَ الْجَنَّةِ فَقَالَ لَهُ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى الَّذِي اصْطَفَاكَ اللهُ بِرِسَالَتِهِ وَبِكَلَامِهِ ثُمَّ تَلُومُنِي عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِّرَ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی آدم او موسیٰ جهګړه اوکړه. موسیٰ اووے ته هغه آدم ئے چه د ګناه په وجه د جنت نه راوتلے ئے. آدم اووے ته هغه موسیٰ ئے چه تا لره الله تعالی غوره کړے دے په رسالت او کلام سره. پس ته ما ملامته کوے په هغه کار باندے چه هغه څما په تقدير کښں څما د پيدائش نه مخکښں ليکلے شوے وو. نو حضرت آدم غالب شو په موسیٰ باندے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِهِمْ

ابوهریره د نبی ﷺ نه د پورتنی راويانو د حديث هم معنی روايت کړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ كَتَبَ اللهُ مَقَادِيرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ قَالَ وَعَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ

د عبد الله بن عمر بن العاص نه روايت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو الله تعالی د مخلوقاتو تقدير د زمکے آسمان د جوړيدو نه پنځوس زره کاله مخکښں ليکلے دے چه هغه وخت د الله عرش په اوبو باندے وو.[1]

عَنْ أَبِي هَانِئٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا وَعَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ

د ابوهانی نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے مګر ددے دواړو راويانو دا ذکر کړی نه دی چه د هغه عرش په اوبو باندے وو.

بَابُ تَصْرِيفِ اللهِ تَعَالَى الْقُلُوبَ كَيْفَ شَاءَ

باب: الله تعالی زړونو لره چه څنګه ئے غواړی اړوی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ يَقُولُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ

د عبد الله بن عمرو بن عاص نه روايت دے چه هغوی اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلی ئے وو د خلقو زړونه د پروردګار د دوؤ ګوتو په مينځ کښں دی. لکه څنګه

[1] نووی وائی دا د تقدير د کتابت زمانه ده نه اصل د تقدير هغه خو ازلی دے د هغے څۀ ابتداء نشته. ددے حديث نه دا معلومه شوه چه د الله تعالی عرش د آسمان او زمکے د وجود نه مخکښں وو او هغه عرش په اوبو باندے وو اوس معلومه نده چه د اوبو نه مخکښں په څۀ شی باندے وو ددے خبر مونږ ته الله او د هغه رسول الله ﷺ نه دے راکړے

مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمٰنِ كَقَلْبٍ وَاحِدٍ يُصَرِّفُهُ حَيْثُ يَشَاءُ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ

چه يو زړه وى الله تعالى هغے لره ګرځوى په څهٔ شان سره چه غواړى. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل اے الله ! د زړونو ګرځونكيه زمونږ زړونه د خپل اطاعت په طرف باندے اوګرځوه[1].

بَابُ كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ

باب : هر يو څيز د تقدير نه دے

عَنْ طَاوُسٍ أَنَّهُ قَالَ أَدْرَكْتُ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُوْنَ كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ قَالَ وَسَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ حَتّٰى الْعَجْزِ وَالْكَيْسِ أَوِ الْكَيْسِ وَالْعَجْزِ

د طاؤس نه روايت دے وائى چه ما د رسول الله ﷺ څو صحابۇ لره موندلى دى . هغوى وئيل چه هر څيز د تقدير نه دے. او ما د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه اوريدلى دى چه فرمائيل ئے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه فرمائيل ئے هر څيز د تقدير نه دے. تردے پورے چه عاجزى او پوهه هم (يعنى بعضے سړے هوښيار او عقلمند وى بعضے بيوقوف كاهل وى دا هم د تقدير نه دے)

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ مُشْرِكُوْ قُرَيْشٍ يُخَاصِمُوْنَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقَدَرِ فَنَزَلَتْ يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ فِي النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دے وائى چه د قريشو مشريكان په جهګړه د رسول الله ﷺ خواله راغلل د تقدير په باره كښې نو دا آيت نازل شو. " په هغه ورځ چه رابه ښكلے شى پړ مخے جهنم ته او اوبه وئيلے شى چه اوڅكه د جهنم مسه كول مونږ پيدا كړے دے هر څيز لره د تقدير سره (ددے حديث نه معلومه شوه چه په دے آيت كښې د قدر نه هم دغه تقدير مراد دے. او څنو ددے معنى دا كړے ده چه مونږ هر څيز لره د

---

[1] يعنى د انسان زړه هم د انسان په قابو كښې نه دے. هغه هم د الله په لاس كښې دے. هغه چه اوغواړى نو د هدايت په لاره ئے روان كړى او كهٔ هغه اوغواړى نو د ګمراهئ په طرف ئے اوچورلوى. غرض دا دے چه د زړهٔ خيال هم د الله د طرفنه دے د عمل خو څهٔ كر دے الله تعالى په قران كښې فرمانولى دى تاسو هيڅ يو كار نهٔ شئ غوښتلے ترڅو چه الله تعالى غوښتلے نهٔ وى. دا حديث د حاديث صفاتو نه دے او پورته څو خله بيان شو چه د سلفو مذهب په دغه آيتونو او احاديثو كښې دا دے چه هغه پخپله ظاهرى معنى باندے محمول دى او د هغے د كيفيت علم صرف الله ته دے. بيشكه د الله ګوتے شته لكه څنګه چه د هغهٔ لاسونه دى خو نهٔ ئے د لاسونو حقيقت مونږ ته معلوم دے او نهٔ ئے د ګوتو او هغه پاك دے د مخلوقات د مشابهت نه او چا چه تاويل كړے دے هغه وائى د ګوتو نه مراد دلته قدرت او اختيار دے او هغه خلق په دے نهٔ پوهيږى چه د قدرت تثنيه او جمع څنګه كيدے شى. په قرآن كښې صفا صيغه د تثنيے موجود دى چه دواړه لاسونه د هغهٔ فراخه دى. او په حديث كښې د أصابع لفظ راغلے دے چه د اصبع جمع ده. (كما يليق بشانه)

بَابُ قُدِرَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظُّهُ مِنَ الزِّنَا وَغَيْرِهِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَشْبَهَ بِاللَّمَمِ مِمَّا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا أَدْرَكَ ذَلِكَ لَا مَحَالَةَ فَزِنَا الْعَيْنَيْنِ النَّظَرُ وَزِنَا اللِّسَانِ النُّطْقُ وَالنَّفْسُ تَمَنَّى وَتَشْتَهِي وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذَلِكَ أَوْ يُكَذِّبُهُ قَالَ عَبْدٌ فِي رِوَايَتِهِ ابْنِ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُتِبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَصِيبُهُ مِنَ الزِّنَا مُدْرِكٌ ذَلِكَ لَا مَحَالَةَ فَالْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ وَالْأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الِاسْتِمَاعُ وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلَامُ وَالْيَدُ زِنَاهَا الْبَطْشُ وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الْخُطَا وَالْقَلْبُ يَهْوَى وَيَتَمَنَّى وَيُصَدِّقُ ذَلِكَ الْفَرْجُ وَيُكَذِّبُهُ

بَابُ حُكْمِ أَطْفَالِ

هغې په انداز باندې پیدا کړې دې یعنې څومره چه مناسب وه)

باب: د انسان په تقدیر کښې د زنا د حصې د لیکلو بیان

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې دا چه کوم الله تعالی اوفرمائیل "کوم خلق چه د لویو لویو ګناهونو نه بچ پاتې شی او په لمم کښې ګرفتار شوی وی نو الله تعالی لوئې بخښونکې دې څما خیال دې د لمم معنی هغه ده کومه چه ابوهریره رضی الله عنه وئیلې ده چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی د هر بنده دپاره د زنا نه د هغهٔ حصه لیکلې ده کومه چه ضرور کیدونکې ده. نو زنا د سترګو کتل دی (پردئ ښځې ته په شهوت سره) او زنا په ژبه خبرې کول دی (د پردئ ښځې سره په شهوت باندې) او زنا د نفس خواهش کول دی او فرج هغې لره رښتیا کړی یا دروغ[1]

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د انسان په تقدیر کښې د هغهٔ د زنا حصه لیکلې شوې ده. چه هغه به هغه خامخا کوی نو د سترګو زنا لیدل دی. او د غوږونو زنا اوریدل دی او د ژبې زنا خبرې کول دی او د لاسونو زنا نیول دی (او ښکلول دی) او د خپو زنا تلل دی (د فاحش کار په طرف) او د زړهٔ زنا خواهش او تمنا ده او شرمګاه دې خبرو لره رښتونې کوی یا د روغژن کوی.

باب: د ماشومانو بیان چه هغه جنتی دی یا

[1] یعنی کچرې فرج ئې په حرام فرج کښې داخل کړو نو دغه زنا ګانې به پرې هم ثابت شی. او کچرې جماع ئې او نهٔ کړه صرف دغه خبرې ترې اوشوې نو هغه حقیقتًا زنا نهٔ ده بلکه مجازًا ده او دا خبرې په لمم کښې داخلې دی چه د هغې نه انسان ډیر کم بچ کیدې شی او کچرې د لویو ګناهونو نه بچ پاتې شی نو الله تعالی به ورته دغه لمم هم اوبخښی. او څنو وئیلی دی چه د لمم نه د ګناه اراده مراد ده یعنی چه په زړهٔ کښې ئې د ګناه خیال راشی لیکن د الله د یرې نه ئې لو نه کړی نو دا خیال به ورته معاف کیږی. والله اعلم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلاَّ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَيُنَصِّرَانِهِ وَيُمَجِّسَانِهِ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فِطْرَةَ اللهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ الْآيَةَ

دوزخي او د فطرت بیان

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر یو بچے پیدا کیږی په فطرت باندے (یعنی په هغه وعده کومه چه د روحونو نه اخستے شوے وه. یا په هغے شقاوت او سعادت باندے کوم چه په خاتمه کښې کیدلو والادی یا په اسلام باندے یا د اسلام په قابلیت باندے) بیا د هغهٔ پلار مور هغهٔ لره یهودی جوړ وی او نصرانی جوړ وی او مجوسی جوړ وی. لکه څناور چارپایه چه هغه همیشه سالم څناور زیږوی یو څرنه تاسو لیدلے دے چه هغه غوږ پریکړے پیدا شوے وی؟ بیا ابوهریره رضی الله عنه اووے کچرے ستاسو زړهٔ غواړی نو دا ایت لولئ. فِطْرَةَ اللهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ یعنی د الله پیدائش چه په هغے باندے ئے جوړ کړی دی خلقو لره د الله پیدائش نهٔ بدلیږی.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً وَلَمْ يَذْكُرْ جَمْعَاءَ

د زهری نه په اسناد سره روایت دے په دے کښې دی. لکه څنګه چه څناور څناور لره زیږوی او په دے کښې د غوږ پریکړے شوی ذکر نشته دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلاَّ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ ثُمَّ يَقُولُ اقْرَءُوا فِطْرَةَ اللهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هر یو بچے په فطرت باندے پیدا کیږی. بیا ئے اوفرمائیل. اولولئ تاسو: فِطْرَةَ اللهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلاَّ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَيُنَصِّرَانِهِ وَيُشَرِّكَانِهِ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ لَوْ مَاتَ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر یو بچے په فطرت باندے پیدا کیږی. بیا د هغهٔ پلار مور هغهٔ لره یهودی، نصرانی، مشرک جوړ وی. یو سړی اووے یا رسول الله! کچرے هغه بچے دد ے نه مخکښې مړ شی. حضرت اوفرمائیل چه

قَبْلَ ذٰلِكَ قَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ

الله خبر دے چه هغو به څۀ کار کوو[1]

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فِيْ حَدِيْثِ ابْنِ نُمَيْرٍ مَا مِنْ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ إِلَّا وَهُوَ عَلَى الْمِلَّةِ وَفِيْ رِوَايَةِ أَبِيْ بَكْرٍ عَنْ أَبِيْ مُعَاوِيَةَ إِلَّا عَلٰى هٰذِهِ الْمِلَّةِ حَتّٰى يُبَيِّنَ عَنْهُ لِسَانُهُ وَفِيْ رِوَايَةِ أَبِيْ كُرَيْبٍ عَنْ أَبِيْ مُعَاوِيَةَ لَيْسَ مِنْ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ إِلَّا عَلٰى هٰذِهِ الْفِطْرَةِ حَتّٰى يُعَبِّرَ عَنْهُ لِسَانُهُ

د اعمش نه په دے اسناد سره د ابن نمیر په حدیث کښی دی چه هیڅ یو بچے نۀ پیدا کیږی مگر هغه په دین (اسلام) باندے وی او د ابوبکر په روایت کښی دی مگر هغه په دے ملت باندے وی تر دے پورے چه د هغۀ د ژبے نه معلوم شی. او د ابوکریب په حدیث کښی دی چه یو بچے نۀ پیدا کیږی مگر په هغه فطرت باندے تر دے پورے چه هغه ئے د خپلے ژبے نه بیان کړی.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُوْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ يُوْلَدُ يُوْلَدُ عَلٰى هٰذِهِ الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَيُنَصِّرَانِهِ كَمَا تُنْتِجُوْنَ الْإِبِلَ فَهَلْ تَجِدُوْنَ فِيْهَا جَدْعَاءَ حَتّٰى تَكُوْنُوْا أَنْتُمْ تَجْدَعُوْنَهَا قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ أَفَرَأَيْتَ مَنْ يَمُوْتُ صَغِيْرًا قَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ

د همام بن منبه نه روایت دے وائی چه ما ته ابوهریرهؓ بیان کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم بچے چه پیدا کیږی هغه په فطرت باندے پیدا کیږی بیا د هغۀ پلار مور هغۀ لره یهودی یا نصرانی جوړ وی. لکه څنگه چه اوښ پیدا کیږی نو ولے په هغوی کښ یو غوږ پریکړے پیدا کیږی بلکه تاسو د هغوی غوږ پریکوئ خلقو عرض اوکړو چه یا رسول الله! کوم بچے چه وړوکے مړ شی. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله خبر دے چه داسے بچی به څۀ عمل کولو.

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ إِنْسَانٍ تَلِدُهُ أُمُّهُ عَلَى الْفِطْرَةِ وَأَبَوَاهُ بَعْدُ يُهَوِّدَانِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه هر انسان لره د هغۀ مور په فطرت باندے زیږوی. بیا د هغۀ مور او پلار هغۀ لره یهودی جوړ وی یا نصرانی یا ممجوسی (وغیره) کچرے

---

[1] حضرت ﷺ اوفرمائیل الله خبر دے چه دۀ به څۀ کار کوو. نو د الله تعالی مرضی ده کۀ خوبنه ئے شی جنت ته به ئے بوځی او کۀ خوبنه ئے شی جهنم ته به ئے بوځی. د بچو په باره کښی کوم چه د بلوغ نه مخکښی مړۀ شی د عالمانو اختلاف دے. نووی وائی د مسلمانانو بچی خو اجماعاً جنتی دی. او د مشرکانو د بچو په باره کښی درے مذهبونه دی. د اکثرو قول دادے چه هغه به د خپل پلار مور سره جهنم ته ځی او ځنو توقف کړے دے او صحیح د محققینو قول دادے چه هغه جنتی دی او د دے حدیث ئے دا جواب ورکړے دے چه په دے کښی جهنم ته د تلو ذکر نشته دے. بلکه مطلب دادے چه کچرے هغه خوانان شوے وے نو الله ته معلومه ده چه څۀ عمل به ئے کوو. لیکن هغه خوانان نۀ شول نو جنتی دی. او خضر چه کوم هلك وژلے وو د هغۀ پلار مور خو مسلمانان وو او په حدیث کښی چه ئے کوم هغه ته کافر ونیلی دی د هغې مطلب دادے چه کچرے هغه لوئے شوے وے نو پخپله هم کافر وو او مور پلار به ئے هم کافر کړی وو.

وَيُنَصِّرَانِهِ وَيُمَجِّسَانِهِ فَإِنْ كَانَا مُسْلِمَيْنِ فَمُسْلِمٌ كُلُّ إِنْسَانٍ تَلِدُهُ أُمُّهُ يَلْكُزُهُ الشَّيْطَانُ فِي حِضْنَيْهِ إِلَّا مَرْيَمَ وَابْنَهَا

ددۀ مور پلار مسلمانان شو نو بچے مسلمان وی او هر بچی لره چه هر کله د هغۀ مور زیږوی نو شیطان هغۀ ته په تشو کښې سکوندړ ورکوی مګر حضرت مریمؑ او د هغے خوئ عیسٰی علیهما السلام لره شیطان سکوندړ ورنکړے شو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنْ أَوْلَادِ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه د رسول اللهﷺ نه د مشرکانو د بچو د حال تپوس اوکړے شو حضرت اوفرمائیل الله تعالی ښه پوهیږی چه هغه به (د لوئے والی په موقعه) څۀ عمل کوو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ يُونُسَ وَابْنِ أَبِي ذِئْبٍ مِثْلَ حَدِيثِهِمَا غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ شُعَيْبٍ وَمَعْقِلٍ سُئِلَ عَنْ ذَرَارِيِّ الْمُشْرِكِينَ

زهری د یونس او ابن ابی ذئب په اسناد سره د پورته د دواړو حدیثونو پشان روایت کړو. مګر د شعیب او د معقل په حدیث کښې دی چه د حضرتﷺ نه تپوس اوکړے شو د مشرکینو د اولاد په باره کښې.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَطْفَالِ الْمُشْرِكِينَ مَنْ يَمُوتُ مِنْهُمْ صَغِيرًا فَقَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه د رسول اللهﷺ نه د مشرکینو د بچو په باره کښې تپوس اوکړے شو چه په ورکوټوالی کښې مړۀ شی. نو حضرتﷺ اوفرمائیل الله پوهیږی په هغه عمل چه (لوئی شوی به وو) هغوی کونکی وو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَطْفَالِ الْمُشْرِكِينَ قَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ إِذْ خَلَقَهُمْ

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه د رسول اللهﷺ نه د مشرکینو د بچو په باره کښې تپوس اوکړے شو نو حضرتﷺ اوفرمائیل. الله تعالی د هغوی اعمال لره پیژنی چه هغوی نے کول هر چه هغوی لره هغۀ پیدا کړی وو.

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْغُلَامَ الَّذِي قَتَلَهُ الْخَضِرُ طُبِعَ كَافِرًا وَلَوْ عَاشَ لَأَرْهَقَ أَبَوَيْهِ

د أبئ بن کعبؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هغه هلك کوم لره حضرت خضرؑ قتل کړو، کافر پیدا شوے وو (یعنی چه لوئی شوے وو کافر کیدۀ به) او کچرے ژوندے وے نو

طُغْيَانًا وَكُفْرًا

خپل پلار مور به ئې په شرارت او کفر کښې اخته کړے وو[1]

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ تُوُفِّيَ صَبِيٌّ فَقُلْتُ طُوبَى لَهُ عُصْفُورٌ مِنْ عَصَافِيرِ الْجَنَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَ لَا تَدْرِينَ أَنَّ اللهَ خَلَقَ الْجَنَّةَ وَخَلَقَ النَّارَ فَخَلَقَ لِهَذِهِ أَهْلًا وَلِهَذِهِ أَهْلًا

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے وائی چه یو بچے مړ شو. ما اووے خوشحالی ده دهٔ لره. دا خو د جنت د چڼچڼرو نه یوه چڼچڼره شوه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاته پته نشته چه الله تعالی جنت او دوزخ پیدا کړی دی. او د هر یو دپاره ئې خانله خانله خلق پیدا کړی دی.

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ دُعِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جَنَازَةِ صَبِيٍّ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ طُوبَى لِهَذَا عُصْفُورٌ مِنْ عَصَافِيرِ الْجَنَّةِ لَمْ يَعْمَلِ السُّوءَ وَلَمْ يُدْرِكْهُ قَالَ أَوَ غَيْرَ ذَلِكَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللهَ خَلَقَ لِلْجَنَّةِ أَهْلًا خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِي أَصْلَابِ آبَائِهِمْ وَخَلَقَ لِلنَّارِ أَهْلًا خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِي أَصْلَابِ آبَائِهِمْ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په انصارو کښې د یو بچی جنازے له اوبللے شو. ما اووے یا رسول الله! خوشحالی د وی دهٔ لره دا خو د جنت د چڼچڼرو نه یوه چڼچڼره شوه. نهٔ دهٔ څهٔ بد کړی دی او نهٔ د بدئ عمر ته رسیدلے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل نور څهٔ وائے اے عائشې! الله تعالی د جنت دپاره خلق جوړ کړی دی. هغوی ئې د جنت دپاره پیدا کړل او هغه د خپلو پلرونو په شا کښې وو. او د جهنم دپاره ئې خلق جوړ کړل او هغوی ئې پیدا کړل د جهنم دپاره او هغه د خپلو پلرونو په شا کښې وو.

عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى بِإِسْنَادِ وَكِيعٍ نَحْوَ حَدِيثِهِ

طلحه بن یحیٰی د وکیع په اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت کړو.

بَابُ الْأَجَلِ وَالرِّزْقِ لَا يَزِيدُ وَلَا تَنْقُصُ عَنِ الْقَدَرِ

باب: عمر او رزق د تقدیر نه نهٔ زیاتیږی او نهٔ کمیږی

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ زَوْجُ

د عبد الله نه روایت دے وائی چه د مؤمنانو مور اُم حبیبه

[1] دلته دا اشکال دے چه هر کله د هغهٔ په تقدیر کښې الله دا لیکلی وو چه هغه به په معصوم والی کښې وژلے شی نو د لوئیدو سره به څنګه کافر کیدو نو دے جواب دا دے چه په تقدیر کښې به دا هم لیکلی وو چه کچرے دے او نهٔ وجلے شی نو دے به کافر کیږی. او د کفر د خوریدو کوشش به کوی.

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ أَمْتِعْنِي بِزَوْجِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِأَبِي أَبِي سُفْيَانَ وَبِأَخِي مُعَاوِيَةَ قَالَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ سَأَلْتِ اللهَ لِآجَالٍ مَضْرُوبَةٍ وَأَيَّامٍ مَعْدُودَةٍ وَأَرْزَاقٍ مَقْسُومَةٍ لَنْ يُعَجِّلَ شَيْئًا قَبْلَ حِلِّهِ أَوْ يُؤَخِّرَ شَيْئًا عَنْ حِلِّهِ وَلَوْ كُنْتِ سَأَلْتِ اللهَ أَنْ يُعِيذَكِ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ أَوْ عَذَابٍ فِي الْقَبْرِ كَانَ خَيْرًا وَأَفْضَلَ قَالَ وَذُكِرَتْ عِنْدَهُ الْقِرَدَةُ قَالَ مِسْعَرٌ وَأُرَاهُ قَالَ وَالْخَنَازِيرُ مِنْ مَسْخٍ فَقَالَ إِنَّ اللهَ لَمْ يَجْعَلْ لِمَسْخٍ نَسْلًا وَلَا عَقِبًا وَقَدْ كَانَتِ الْقِرَدَةُ وَالْخَنَازِيرُ قَبْلَ ذٰلِكَ

اووے یا الله فائده راکړے ما لره خما د خاوند رسول الله ﷺ نه او خما د پلار ابوسفیان او خما د رور معاویه نه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. تا د الله تعالی نه هغه څیزونه اوغوښتل چه د هغے میعادونه مقرر شوی دی. او ورځ ئے معیّن شوے ده. او رزقونه تقسیم شوی دی. یو څیز لره الله تعالی د هغهٔ مقرره وخت نه نهٔ مخکښ کوی او نهٔ ئے د خپل مقرره مقام نه روستو کوی او کچرے تا سوال کړے وے د الله نه د پناه غوښتلو د دوزخ د عذاب نه یا د قبر د عذاب نه نو غوره به وه یا افضله به وه. او د حضرت ﷺ په مخکښ د شادوګانو او خنزیران ذکر اوکړے شو چه دا هغه بنیادم دی کوم چه مسخ شوی وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل کوم خلق چه شادوګان او خنزیران شوی وو د هغوی نسل یا اولاد نهٔ دے پاتے شوے. او دا شادوګان او خنزیران خو ددے نه هم مخکښ موجود وو [1].

عَنْ مِسْعَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِهِ عَنِ ابْنِ بِشْرٍ وَوَكِيعٍ جَمِيعًا مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ

د مسعر نه په دے اسناد سره روایت دے مګر ددهٔ په حدیث کښ کوم چه د بشر او د وکیع په واسطے سره دے په دے کښ دی ، د دوزخ د عذاب نه او د قبر د عذاب نه

---

[1] یعنی عمر او رزق خو مقرر دے کمیدے زیاتیدے نشی. د هغے دپاره دعا کول فضول دی. دُعا د خپل مغفرت او بخښنے دپاره کول غوره دی. اګر چه مغفرت او بخشش هم په تقدیر کښ لیکلے شوے دے. لیکن د هغے دُعا کول په عبادت کښ داخل دی او د عمر د اوږد والی دعا کول عبادت نهٔ دے. او دا چه کوم په حدیث کښ راغلی دی چه په خپلولئ میلاوولو سره عمر سوا کیږی او ددے ناویل پوزنه تیر شوے دے او کیدے شی چه هغه عمر سوا کیږی چه هغه په لوح محفوظ کښ لیکلے شوے دے الله هغے لره کمولے او زیاتولے شی. لیکن کوم چه په علم الهٰی کښ دے هغه کمیدے زیاتیدے نهٔ شی. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه شادو او سور د هغه خلقو په اولاد کښ نهٔ دی کوم چه مسخ شوی وو مراد د هغے نه د بنی اسرائیلو خلق دی چه په هغوی باندے عذاب راغلے وو او هغه ټول په درے ورځو کښ هلاك شوی وو د هغوی نسل نهٔ وو پاتے شوے اوس چه کوم سوران شادوګان دی دا حیوانات دی او د دوی نسل د بنی اسرائیلو نه مخکښ په دنیا کښ راروان وو. (نووی مختصراً)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ اَللّٰهُمَّ مَتِّعْنِي بِزَوْجِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِأَبِي أَبِي سُفْيَانَ وَبِأَخِي مُعَاوِيَةَ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكِ سَأَلْتِ اللهَ لِآجَالٍ مَضْرُوبَةٍ وَآثَارٍ مَوْطُوءَةٍ وَأَرْزَاقٍ مَقْسُومَةٍ لَا يُعَجِّلُ شَيْئًا مِنْهَا قَبْلَ حِلِّهِ وَلَا يُؤَخِّرُ مِنْهَا شَيْئًا بَعْدَ حِلِّهِ وَلَوْ سَأَلْتِ اللهَ أَنْ يُعَافِيَكِ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ لَكَانَ خَيْرًا لَكِ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ الْقِرَدَةُ وَالْخَنَازِيرُ هِيَ مِمَّا مُسِخَ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يُهْلِكْ قَوْمًا أَوْ يُعَذِّبْ قَوْمًا فَيَجْعَلَ لَهُمْ نَسْلًا وَإِنَّ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ كَانُوا قَبْلَ ذٰلِكَ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے وائی چه د مؤمنانو مور أم حبیبهؓ اووے یا الله فائده راکړے مالره خما د خاوند محمد رسول اللهﷺ نه او خما د پلار ابوسفیان نه او خما د رور معاویه نه. رسول اللهﷺ هغې ته اوفرمائیل تا الله تعالی ته د هغه خبرو دپاره اووے چه د هغې میعادونه مقرر دی او د قدمه پورے تلل لیکلی شوی او رزقونه ویشلی شوی دی. په هغې کښې یو څیز الله تعالی د هغې د وخت نه مخکښې یا د هغې د وخت نه روستو کولو والا نهٔ دے. کچرے تا د اللهؓ نه دا غوښتلے وے چه تالره د بچ کړی د جهنم د عذاب نه یا د قبر د عذاب نه نو بهتره به وه. یو سړی اووے یا رسول الله! دا شادو او خنزیر د هغه خلقو نه دی کوم چه مسخ شوی وو. حضرتﷺ اوفرمائیل الله تعالی چه کوم قوم هلاک کړے دے یا ئې په عذاب کړے دے نو د هغې نسل ئې نهٔ دے پاتې کړے او دا شادوګان اوخنزیران خو د مخکښې نه هم موجود وو.

عَنْ سُفْيَانَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَآثَارٍ مَبْلُوغَةٍ قَالَ ابْنُ مَعْبَدٍ وَرَوَى بَعْضُهُمْ قَبْلَ حِلِّهِ أَيْ نُزُولِهِ

د سفیان نه په دے اسناد سره روایت دے مګر په دے کښې دی " قدم چه اورسولے شو " ابن معبد اوونیل چه بعض راویانو " حِلِّه " نه روستو اووے " نزوله " (یعنی د حِلِّه تفسیر ئې په نزوله سره اوکړو (یعنی د هغې د راکوزیدو نه روستو)

بَابُ الْإِيمَانِ بِالْقَدَرِ

باب: په تقدیر باندے د اعتماد ساتلو حکم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی زبردست مسلمان (زبردست مسلمان هغه دے چه د هغهٔ ایمان

خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَزْ وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا وَلَكِنْ قُلْ قَدَرُ اللهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ

قوی وی او په الله تعالی باندے بهروسه لری او د آخرت په کارونو کښې د همت خاوند وی، د الله په نز بهتر او الله ته زیات غوره دے د کمزوری مسلمان نه او د هر قسم مسلمان غوره دے چه حرص کوی د هغه کارونو کوم چه تاسو لره فائده ورکونکی دی (یعنی په آخرت کښې به په کار راشی) او مدد غواړئ د الله نه او همت مه بائیلئ او کچرے پتاسو باندے څۀ مصیبت[1] راشی نو داسے مۀ وایئ چه کۀ ما داسے کړے وے نو دا مصیبت به ولے راتلو لیکن داسے وایئ چه الله به په تقدیر کښې داسے لیکلی وو څۀ چه هغه غوښتل اوشو. اگر مگر کول د شیطان دپاره لاره بیرته کول دی[1]

[1] یعنی خول حه به د ے اعتقاد سره اووانی جه د اسبابو تاثیر مستقل دے او کۀ دا سبب نۀ وے نو مصیبت به نۀ وو راغلے نو هغه د اسلام نه بهر شو ځکه چه هر یو کار د الله د اراد ے نه بغیر نۀ کیږی او څوك چه د الله تعالی په تقدیر باندے اعتقاد لری او دا گڼری چه د اسبابو تاثیر هم د هغۀ په حکم سره دے هغۀ لره اگر مگر ونیل جائز نۀ دی. او د هغے مثال داد ے چه مؤمن وانی باران بنه اوشو او بۀ به دیرے شی او کافر هم وانی خو د مؤمن ونیل په بل اعتقاد سره دی او د کافر ونیل په بل اعتقاد سره دی. او کوم اعتقاد چه د کافر دے په هغه اعتقاد باندے دا کلمه ونیل صحیح نۀ دی او د مؤمن په اعتقاد سره صحیح دی

كِتَابُ الْعِلْمِ

د علم مسئلې

بَابُ النَّهْيِ عَنْ اتِّبَاعِ مُتَشَابِهِ الْقُرْآنِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تَلاَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلاَّ اللهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُولُو الأَلْبَابِ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ سَمَّى اللهُ فَاحْذَرُوهُمْ

باب: په قرآن کښې چه کوم متشابه آیتونه دی په هغې کښې لټون کول منع دی

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ دا ایت اولوستو الله پاك هغه ذات دے چه نازل کړے ئې دے په تا باندے قرآن چه بعضے له دے نه آیتونه محکم دی چه دا محکم آیتونه اصل د قرآن دے. او نور آیتونه دی چه متشابه دی (یعنی چه معنی باندے ئې څوك نۀ پوهیږی) پس هغه کسان چه په زړونو د هغوی کښې کوږ والے دے پس تابعداری کوی د هغې چه متشابه وی د قرآن سره دپاره د طلب کولو د فتنې او دپاره د طلب کولو د معنی د هغې او نۀ پوهیږی په معنی د هغې باندے مگر الله پاك او هغه کسان چه محکم وی په علم کښې وائی دوی چه ایمان راوړے دے مونږه په دے (د متشابه) باندے ټول د طرفه د رب زمونږ نه دی. او نصیحت نۀ قبلوی په دے سره مگر خاوندان د عقلونو (د مؤمنانو مور) وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل هر کله چه تاسو او وینئ چه تابعداری کوی څوك د متشابه آیتونو نو د هغوی نه ځان اوساتئ: هغه دغه خلق دی کوم چه الله تعالی اوښودل[1].

---

[1] متشابه په معنی کښې د علماؤ ډیر قولونه دی ځنې وائی چه متشابه د هغه حرفونو نوم دے کوم چه په اول د سورتونو کښې دی لکه الٓمٓ او الٓمٓرٰ او کٓهٰیٰعٓصٓ دد دے علم د الله نه سوا بل چا ته نشته دے د سلفو دغه قول دے او د حدیث نه هم معلومیږی او دا أصحّ الاقوال دے او ځنو ونیلی دی چه متشابه قصے او امثالو نه دی او محکم حلال او حرام او وعد او وعید دے او ځنے وائی مشابه مشترك الالفاظ دی لکه قرء او لمس وغیره امام غزالی وائی چه د صفات آیتونه متشابه دی چه د هغے د ظاهری معنی نه جهت یا تشبیهه ونلے دد او هغه تاویل نه محتاج دی امام فخر الدین رازی ونیلی دی چه هره یوه فرقه د خپل مذهب مفید آیتونو ته محکم

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ هَجَّرْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَالَ فَسَمِعَ أَصْوَاتَ رَجُلَيْنِ اخْتَلَفَا فِي آيَةٍ فَخَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْرَفُ فِي وَجْهِهِ الْغَضَبُ فَقَالَ إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِاخْتِلَافِهِمْ فِي الْكِتَابِ

د عبد الله بن عمرو نه روایت دے چه یوه ورځ زهٔ وختی د رسول الله ﷺ خواله لاړم. حضرت ﷺ د یو دوو سړو آواز واوریدو چه په یو ایت کښې په جهګړه وو. حضرت ﷺ بهر اووتو او د هغوی په مخ باندے غصه معلومیده. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ستاسو نه مخکښې خلق تباه شوی دی د الله تعالی په کتاب کښې د جهګړے کولو نه (چه د نفسانیت او فساد په نیت سره وی یا خلقو له د دهوکه کولو دپاره. لیکن د مطلب د تحقیق دپاره او د دین د احکامو راویستو دپاره صحیح دی (نووی)

عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ عَلَيْهِ قُلُوْبُكُمْ فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ فَقُومُوا

د جندب بن عبد الله نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل لولئ قران لره د کومے پورے چه ستاسو د زړهٔ او ژبے سره موافقت کوی او هر کله چه ستاسو په زړهٔ او ژبه کښې اختلاف راشی نو پاځئ اودریږئ[1]

عَنْ جُنْدُبٍ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ عَلَيْهِ قُلُوْبُكُمْ فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فَقُومُوا

جندب یعنی ابن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه قران لولئ ترڅو پورے چه ستاسو زړونه مضبوط وی لیکن هر کله چه زړهٔ بیزاره شی نو پریږدئ.

عَنْ أَبِي عِمْرَانَ قَالَ قَالَ لَنَا جُنْدَبٌ وَنَحْنُ غِلْمَانٌ بِالْكُوفَةِ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمَا

د ابو عمران نه روایت دے وائی چه جندب مونږ ته بیان کړے دے او مونږ هغه وخت بچی وو په کوفه کښې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل قران لولئ (مخکښې د پورتنی حدیثونو پشان

وائی او د نورو مفید ایتونو ته: متشابه ګوته نیسی په هر حال د محکم او متشابه په تعین کښې لوئے اختلاف دے او مونږ دده تفصیل په انتهی فی الاستوا. کښې کړے دے دده حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د ګمراهانو او خاوندانو د بدعت سره میلاو یدل منع دی او مراد د لټون کولو نه دادے چه د فساد دپاره یا د خلقو د خطا کولو دپاره لټون کوی. او څوک چه د خان پوهه کولو دپاره تپوس کوی نو هغه لټون نهٔ دے پس چه څوک د فساد دپاره تپوس کوی هغه له جواب مهٔ ورکوئ بلکه سزاء ورکوی لکه څنګه چه حضرت عمر صبیغ بن عسل ته سزا ورکړے وه

[1] یعنی قران: هغه وخته پورے لولئ: کومے پورے چه مو په زړهٔ ښهٔ لګی او مزه درکوی هر کله چه مو زړهٔ نهٔ غواړی نو خالی په ژبه د لوستلو مزے دی بلکه د غلطو لوستلو یره پکښې هم ده.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَبْغَضَ الرِّجَالِ إِلَى اللّٰهِ الْأَلَدُّ الْخَصِمُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضي الله عنها نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي په سړو کښې د الله په نز بد هغه سړے دے چه هغه ډیر قهرجن او جنګ بیروي[1]

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ دَخَلُوا فِي جُحْرِ ضَبٍّ لَاتَّبَعْتُمُوهُمْ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ آلْيَهُودَ وَالنَّصَارَى قَالَ فَمَنْ

د ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي خامخا به تاسو خئ د مخکښني امتونو په لارو (یعني په ګناهونو کښې او د دین په مخالفت کښې نه دا چه کفر به اختیار کړئ) لویشت په لویشت او ګز په ګز تردے پورے چه کچرے هغو د سمسرے په سوري کښې ننوتي وي نو تاسو به هم په هغوي پسے ننوځئ موږ عرض اوکړو چه یا رسول الله د مخکښني امتونو نه مراد یهودیان او نصارئ دي؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل نو نور څوک دي؟[2]

---

[1] چه په ناحقه د خلقو سره جنګیږي او فساد جوړ وي که په دین کښې وي یا په دنیا کښې. لیکن حقه خبره د دین ظاهرول او د رسول الله ﷺ په سنتو باندے عمل کول جهګړه نه ده لګه ثواب دے او کوم سړے چه د حضرت په سنتو باندے د عمل کولو والا سره جهګړه کوي هغه پخپله مردود او ملعون دے.

[2] نووي وائي دا حدیث معجزه ده د رسول الله ﷺ څنګه چه حضرت ﷺ فرمائیلي وو هغه شان اوشوه

د اردو کتاب مترجم وائي زموږ په زمانه کښې خو دا حدیث بیشکه پوره شوے دے د ټولې دنیا مسلمانانو په هره خبره کښې د نصاراؤ مشابهت شروع کړے دے په خوړلو څښکلو اغوستلو کښې په ځنې مسلمانانو سړے دهوکه کیږي چه دا نصراني خو نه دے افسوس دے په دے باندے چه دا غه بے دینئ او بے همتئ سره نے د عقل سلیم نه هم کار اخستل پریخودي دي کچرے د نصاراؤ مشابهت ورته دومره غوره وے نو چه په ښو خبرو کښې نے هم د هغوي پشان اتفاق کولے لکه د هغوي پشان همت د هغوي پشان علم نے حاصلولے بیا به هم یو شان وو نو دا خونے تول په طاق کښې ایخودي دي صرف په خوړلو څښکلو او جامه پیزار کښې وقتاً فوقتاً د هغوي مشابهت کوي په دے نه پوهیږي چه خپل قومي لبس او وضع یو قومي عزت دے او دا بے وجې پریخودل انتها درجه بے عزتي ده د عقلمندئ کار خو به دا وو چه دوي هم د نصاراؤ پشان د خپل مذهب علم حاصلولے چه په دے سره به د دوي دنیاوي طاقت او شوکت پوره کیدو او د دین قدر به ورځ په ورځ سوا کیدو جماعتونه به آبادیدل مدرسے به جوړیدے په قومي اتفاق کښې به ترقي راتله چه په هغې د ټولې دنیاوي او دیني کارونو دارومدار دے او که چا نوے لباس اختیار ولے نو پخپله مرضئ د ټولو فاندو لاندے به نے نوے لباس اختیارولے (یعني ایجاد کولے) نه دا چه په تیارو کښې دیے وقوفو پشان د نصاراؤ تقلید کوي الله تعالی د د مسلمانانو سرګے کهولاؤ کړي دوي چه چرته روان دي نو دا لار د ترقئ او بهبود نه دی ترقي د دوي چه کومه زمانه کښې شوے وه د هغې تاریخ د حدیثو په کتابونو کښې په صفا طریقه موجود دے پس لازم دي چه په سنت باندے عمل اوشي او د صحابو د رسول الله ﷺ طریقے اختیار کړے شي

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د زید بن اسلم نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے. د عطاء نه روایت دے او د پورتنی حدیث پشان حدیث ئے بیان کړو

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ قَالَهَا ثَلَاثًا

د عبد اللهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه تباه شو د وینبتو نه خرمن ویستلو والا (یعنی بے فائدے کوشش کونکی د حد نه زیات او رپدونکی تعصب کونکی) درے ځله ئے داسے اوفرمائیل

بَابُ رَفْعِ الْعِلْمِ فِي آخِرِ الزَّمَانِ

باب په آخره زمانه کښې د علم کمیدل

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ وَيَثْبُتَ الْجَهْلُ وَيُشْرَبَ الْخَمْرُ وَيَظْهَرَ الزِّنَا

د انس بن مالكؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی بعضے د قیامت د علاماتو نه دا دی چه علم به ختم شی (یعنی د دین علم به خلق کم حاصلوی او په دنیا کښې به ډوب وی) او جهالت به قائم شی یا به خورشی او شراب به څښکلے شی. او زنا به په ښکاره بهاره کیږی[1]

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَلَا أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُحَدِّثُكُمْ أَحَدٌ بَعْدِي سَمِعَهُ مِنْهُ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ وَيَظْهَرَ الْجَهْلُ وَيَفْشُوَ الزِّنَا وَيُشْرَبَ الْخَمْرُ وَيَذْهَبَ الرِّجَالُ وَتَبْقَى النِّسَاءُ حَتّٰى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً قَيِّمٌ وَاحِدٌ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے وائی چه آیا زۀ تاسو ته یو حدیث بیان نۀ کړم چه هغې لره ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلے دے. او زما نه پس به یو سړے داسے تاسو ته دا حدیث بیان نۀ کړی چه دے لره هغۀ اوریدلے وی د رسول اللهﷺ نه حضرتﷺ فرمائیلی وو بعضے د قیامت د نخښو نه دادی چه علم به پورته کړے شی. او جهالت به خور کړے شی. او زنا به په ډاګه کولے شی. او شراب به څښکلے شی. او سړی به کم شی تر دے پورے چه د خلویښتو ښځو دپاره به یو سړے وی چه هغه به د هغوی خبر اخلی (یعنی په جنګونو کښې به سړی ډیر قتل شی او ښځے به پاتے شی)

---

[1] په دے زمانه کښې دا تولے خبرے موجود دی د دین د علم خو دا حال دے چه اکثر خلق خپل اولاد ته دینی تعلیم نۀ ورکوی ضروری عقاند ورته نه ښانی حدیث او تفسیر خو لویه خبره ده د شرابو دا حال دے چه معاذ الله یو امیر غریب داسے کم دے چه د نشے استعمال نۀ کوی د امیرانو او نوابانو دا حال دے چه بے د مبالغے نه به دا ونیل صحیح وی چه په سلو کښې یو کم سل شرابیان دی. د زنا دا حال دے چه علانیه د فسق د فجور بازار گرم دے په فاحشو سره څۀ شرم نشته او نه ورته څوك عیب وانی لا حول ولا قوة إلا بالله یا الله اوس د خپل رسول نائب لره زر راولیږه چه هغه ستا دین په دویم خل ژوندے کړی

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ بِشْرٍ وَعَبْدَةَ لَا يُحَدِّثُكُمُوهُ أَحَدٌ بَعْدِي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ

انس د نبی ﷺ نه روایت کړے دے او د ابن بشر او د عبده په حدیث کښې دی تاسو ته به څوك حدیث بیان نۀ کړی خما نه روسته ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی حضرت ﷺ فرمائیل (مخکښې د پورتنی حدیث پشان ئے بیان کړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ وَأَبِي مُوسَى فَقَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ أَيَّامًا يُرْفَعُ فِيهَا الْعِلْمُ وَيَنْزِلُ فِيهَا الْجَهْلُ وَيَكْثُرُ فِيهَا الْهَرْجُ وَالْهَرْجُ الْقَتْلُ

د عبد الله بن مسعود او ابوموسیٰ اشعری نه روایت دے دوی وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د قیامت نه مخکښې به څۀ ورځے داسے وی چه په هغے کښې به علم اوچت کړے شی او جهالت به راکوز کړے شی او قتل وغارت به ډیر شی.

عَنْ شَقِيقٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ عَبْدِ اللهِ وَأَبِي مُوسَى وَهُمَا يَتَحَدَّثَانِ فَقَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مِثْلَ حَدِيثِ وَكِيعٍ وَابْنِ نُمَيْرٍ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِهِ

د شقیق نه روایت دے چه زۀ ناست وم د عبد الله او ابوموسیٰ په خوا کښې هغوی دواړو خبرے کولے. دوی دواړو اووے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څنګه چه وکیع او ابن نمیر د ابوموسیٰ او ابوموسیٰ د رسول الله ﷺ نه روایت کړو.

عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ إِنِّي لَجَالِسٌ مَعَ عَبْدِ اللهِ وَأَبِي مُوسَى وَهُمَا يَتَحَدَّثَانِ فَقَالَ أَبُو مُوسَى قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِمِثْلِهِ

ابووائل نه روایت دے چه زۀ ناست وم د عبد الله او د ابوموسیٰ سره او دواړو خبرے کولے. نو ابوموسیٰ اووے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د پورتنی حدیث پشان.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيُقْبَضُ الْعِلْمُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ قَالُوا وَمَا الْهَرْجُ قَالَ الْقَتْلُ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه نژدے شی زمانه اوچت به کړے شی علم (یعنی زمانه چه قیامت ته نژدے شی) او په عالم کښې به فساد خوریږی او په زړونو کښې به بخیلی اچولے کیږی (خلق به خیرات او زکوٰۃ نۀ ورکوی) او حرج به زیات شی. خلقو اووے یارسول الله! حرج څۀ دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل قتل.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيُقْبَضُ الْعِلْمُ ثُمَّ ذَكَرَ مِثْلَهُ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. نژدے به شی زمانه. او اوچت به شی علم مخکښې حدیث د پورتنی حدیث پشان بیان کړو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيَنْقُصُ الْعِلْمُ ثُمَّ ذَكَرَ مِثْلَ حَدِيثِهِمَا

د ابوهريرة نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي زمانه به نږدے کړے شي او علم به اوچت کړے شي بيا ئے د پورتنو دواړو حديثونو پشان بيان کړو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ كُلُّهُمْ قَالَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ غَيْرَ أَنَّهُمْ لَمْ يَذْكُرُوا وَيُلْقَى الشُّحُّ

د ابوهريرة نه روايت دے ددے روايت د ټولو راويانو روايت هغسے دے څنګه چه زهري د حميد نه او هغهٔ د ابوهريرة نه روايت کړو. مګر دوی دا بيان نهٔ دے کړے چه بخيلي به اوغورځولے شي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ النَّاسِ وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ حَتَّى إِذَا لَمْ يَتْرُكْ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالًا فَسُئِلُوا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا

د عبد الله بن عمرو بن عاص نه روايت دے وائي چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو الله تعالى به په دے شان باندے د خلقو د زړونو نه علم نهٔ قبض کوی ليکن په دے شان به ئے اوچتوی چه عالمان به اوچت کړی تردے پورے چه هر کله يو عالم پاتے نهٔ شی نو خلق به خپل سرداران جاهلان خلق جوړ کړی هغه به د ځانه فتوے ورکوی او پخپله به ګمراه وی او نورو لره به هم ګمراه کوی[1].

---

[1] يعنی د علم او چتيدل دا نهٔ دی چه د عالمانو د زړونو نه به سلب کړے شی. بلکه عالمان به وفات شی او جاهلان به پاتے شی په اسلام کښې د ديندار عالم د وفات نه بل لوئے مصيبت نشته دے . په دے حديث کښې دا هم بيان دے چه قيامت ته نږدے به اکثر سرداران جاهلان وی پس دا هم هغه وخت دے چه نواب. بادشاه او امير هغه وی چه هغه انتها درجه جاهل او د قرآن حديث نه ناواقفه وی نن صبا خو به ټولو مسلمانانو کښې دا لويه تباره ده چه د عالمانو په موجود والی د هغوی قدر احترام نشته دے او جاهلانو لره خپل مفتيان امامان او قاضيان جوړ وی. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ په اکثرو جماعتونو کښې چه مونږ خيال اوکړو نو د عالم او مولوی په موجود والی کښې جاهلانو لره مخکښې کوی او په هغوی پسے روستو مونځ کوی د حديث د مخه دغه ټول ګمراه دی الله تعالى د هغوی ته هدايت اوکړی په هندوستان کښې په دے وخت کښې په اميرانو او نوابانو کښې هيڅ څوک عالم نشته دے. سوا د جناب سيد علامه مولانا نواب سيد محمد صديق حسن بهادر نه هغوی د دنيا نه رخصت شوی دی. الله تعالى د هغوی مغفرت اوکړی او په جنت کښې د ځائے فراخه کړی امين. الله تعالى د هغوی په عمر او اقبال کښې برکت واچوی د هغوی د ذات نه په هندوستان کښې علم حديث خورېږی د صحاح ستهٔ ترجمه هم د هغوی په سعی او په کوشش او په حمايت سره کيږی او په سوونو کتابونه د حديث او د تفسير ئے ليکلی دی او په شوقيانو ئے د الله دپاره تقسيموی د هند مسلمانانو لره دا دے لوئی نعمت شکر ګذار کيدل پکار دی او د هغوی په خير لټولو او په مدد هر وقت تيار اوسيدل پکار دی او د هغوی دپاره د خير دُعا کول پکار دی. امين يا رب العالمين

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عليهِ وسلَّم بِمِثْلِ حديثِ جريرٍ وزادَ فِي حديث عمر بنِ عليٍّ ثُمَّ لَقِيتُ عَبْدَ اللهِ بنَ عمرٍو على رأسِ الحَوْلِ فَسأَلْتُهُ فَرَدَّ علينا الحديثَ كما حدَّثَ قالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ

عبد الله بن عمرو د رسول الله ﷺ نه د جریرؓ د حدیث پشان روایت اوکړو. او د عمر بن علی په حدیث کښې دا زیاته ده چه بیا ما د عبد الله بن عمروؓ سره کال پس ملاقات اوکړو او د هغوی نه مې تپوس اوکړو نو هغوی دغسې بیان اوکړو څنګه نے چه مخکښې بیان کړے وو چه اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه حضرت ﷺ وفرمائیل.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَتْ لِي عَائِشَةُ يَا ابْنَ أُخْتِي بَلَغَنِي أَنَّ عَبْدَ اللهِ بنَ عَمْرٍو مَارٌّ بِنَا إِلَى الْحَجِّ فَالْقَهُ فَسَائِلْهُ فَإِنَّهُ قَدْ حَمَلَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِلْمًا كَثِيرًا قَالَ فَلَقِيتُهُ فَسَاءَلْتُهُ عَنْ أَشْيَاءَ يَذْكُرُهَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُرْوَةُ فَكَانَ فِيمَا ذَكَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ لَا يَنْتَزِعُ الْعِلْمَ مِنَ النَّاسِ انْتِزَاعًا وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعُلَمَاءَ فَيَرْفَعُ الْعِلْمَ مَعَهُمْ وَيُبْقِي فِي النَّاسِ رُءُوسًا جُهَّالًا يُفْتُونَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ فَيَضِلُّونَ وَيُضِلُّونَ قَالَ عُرْوَةُ فَلَمَّا حَدَّثْتُ عَائِشَةَ بِذَلِكَ أَعْظَمَتْ ذَلِكَ وَأَنْكَرَتْهُ قَالَتْ أَحَدَّثَكَ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هَذَا قَالَ عُرْوَةُ حَتَّى إِذَا كَانَ

د عروه بن زبیرؓ نه روایت دے وائی چه ما ته حضرت عائشےؓ اووے چه اے خما وراره زۀ خبره شوے یم چه عبد الله بن عمروؓ به په مونږ باندے تیریږی د حج دپاره ته د هغوی سره میلاؤ شه او د علم د خبرو تپوس ترے اوکړه. ځکه چه هغوی د رسول الله ﷺ نه ډیرے د علم خبرے حاصلے کړے دی. عروه وائی زۀ د هغوی سره میلاؤ شوم او د ډیرو خبرو تپوسونه مے ترے اوکړل چه هغوی د رسول الله ﷺ نه روایت کړلے. په هغه خبرو کښې یو دا حدیث هم وو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله تعالیٰ به علم د خلقو نه په یو ځائے نۀ اخلی لیکن عالمان به ترے اوچت کړی نو د هغوی سره به علم هم اوچت شی او د خلقو سرداران به جاهلان پاتے شی چه بغیر د علم نه به فتوے ورکوی پخپله به ګمراه وی او نور به ګمراهان کوی. عروهؓ وائی هر کله چه ما دا حدیث حضرت عائشےؓ ته بیان کړو هغوی دے لره لوئی اوګڼړو. او دے حدیث انکار ئے اوکړو، په دے خیال سره چه چرته عبد الله بن عمروؓ ته شك نۀ وی راغلے یا هغوی د حکمت په کتابونو کښې دا مضمون لوستلے وی او په غلطئ سره ئے دے ته حدیث وئیلے وی، او اوئے وئیل چه عبد الله بن عمروؓ تا ته دا بیان اوکړو چه ما د رسول الله ﷺ نه دا حدیث اوریدلے دے. عروه وائی چه هر کله دویم کال چه راغے نو حضرت عائشےؓ ما ته

قَابِلٍ قَالَتْ لَهُ إِنَّ ابْنَ عَمْرٍو قَدْ قَدِمَ فَالْقَهُ ثُمَّ فَاتِحْهُ حَتَّى تَسْأَلَهُ عَنِ الْحَدِيثِ الَّذِي ذَكَرَهُ لَكَ فِي الْعِلْمِ قَالَ فَلَقِيتُهُ فَسَاءَلْتُهُ فَذَكَرَهُ لِي نَحْوَ مَا حَدَّثَنِي بِهِ فِي مَرَّتِهِ الأُولَى قَالَ عُرْوَةُ فَلَمَّا أَخْبَرْتُهَا بِذَلِكَ قَالَتْ مَا أَحْسَبُهُ إِلاَّ قَدْ صَدَقَ أَرَاهُ لَمْ يَزِدْ فِيهِ شَيْئًا وَلَمْ يَنْقُصْ

اووے لاړ شه د عبد الله بن عمروؓ خواله او خبرے اترے ورسره اوکړه تردے پورے چه تپوس اوکړه د هغه حدیث کوم چه د علم په باب کښ هغوی تا ته بیان کړےوو عروهؓ وائی چه زۀ بیا د عبد اللهؓ سره میلاؤ شوم او د هغوی نه مے د دے حدیث په باره کښ تپوس اوکړو. هغوی هم هغسے بیان اوکړو لکه څنګه چه ئے په مخکښ خل ما ته کړےوو. عروهؓ وائی هر کله چه ما حضرت عائشےؓ ته دا بیان اوکړو نو هغوی اووے زۀ عبد الله بن عمرو لره رښتونے ګنړم. او هغوی په دے حدیث کښ نۀ زیاتے کړے دے او نۀ کمے (حضرت عائشےؓ چه په رومبی خل کوم انکار اوکړو هغه دد ے وجے نۀ وو چه عبد الله بن عمروؓ ئے دروغژن ګنړلو بلکه په دے خیال سره چه کیدے شي هغوی ته شك نۀ وی راغلے هر کله چه په دویم خل هغوی د ے حدیث لره په هغه شان بیان کړو نو هغه خیال ختم شو)

بَابُ مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً أَوْ سَيِّئَةً

باب: کوم سړے چه ښه خبره خوره کړي یا بده خبره خوره کړي

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ جَاءَ نَاسٌ مِنَ الأَعْرَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمُ الصُّوفُ فَرَأَى سُوءَ حَالِهِمْ قَدْ أَصَابَتْهُمْ حَاجَةٌ فَحَثَّ النَّاسَ عَلَى الصَّدَقَةِ فَأَبْطَئُوا عَنْهُ حَتَّى رُئِيَ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ قَالَ ثُمَّ إِنَّ رَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ جَاءَ بِصُرَّةٍ مِنْ وَرِقٍ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ ثُمَّ تَتَابَعُوا حَتَّى عُرِفَ السُّرُورُ فِي وَجْهِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَنَّ فِي

د جریر بن عبد اللهؓ نه روایت دے وائی چه څۀ د بانډے خلق د رسول اللهﷺ خواله راغلل هغوی کمبل اغوستے وو. حضرتﷺ د هغوی بدحال اولیدو او د هغوی محتاجی ئے معلومه کړه نو خلقو ته ئے د صدقے ورکولو رغبت ورکړو. پس خلق په صدقه ورکولو کښ لږ حصار شو ترد ے پورے چه دد ے خبرے تکلیف د حضرتﷺ په مخ باندے معلوم شو. وائی چه بیا یو سړی د انصارو نه د روپو تهیلۍ په لاس کښ نیولے وه او راغے بیا بل راغے. ترد ے پورے چه یو تار جوړ شو (د صدقے او د خیرات) او د حضرتﷺ په مخ مبارك خوشحالی معلومیدل شروع شو بیا حضرتﷺ اوفرمائیل څوك چه په اسلام کښ ښه خبره را اوباسی (یعنی چه ښه

الإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ وَمَنْ سَنَّ فِي الإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ عَلَيْهِ مِثْلُ وِزْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ

خبره جاري کړي چه د شريعت په رونې سره د ثواب وي) او بيا خلق د هغهٔ نه پس په هغې باندې عمل کوي نو څومره چه د عمل کونکي ثواب دې دومره به دهٔ ته رسي او د عمل کولو په ثواب کښې څهٔ کمې به نهٔ راځي. او څوك چه په اسلام کښې بده خبره رااوباسي (مثلًا بدعت يا د ګناه خبره) او خلق ددهٔ نه پس په هغې عمل کوي نو د ټول عمل کونکو د ګناه برابر ګناه به په دهٔ پسې ليکلې شي او د عمل کونکو د ګناه نه به څهٔ نهٔ کميږي[1].

عَنْ جَرِيرٍ قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَثَّ عَلَى الصَّدَقَةِ بِمَعْنَى حَدِيثِ جَرِيرٍ

د جرير رضی الله عنه نه روايت دې وائي چه رسول الله ﷺ خطبه اولوسته او د صدقې په ورکولو ئې ترغيب ورکړو د جرير د حديث پشان.

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَسُنُّ عَبْدٌ سُنَّةً صَالِحَةً يُعْمَلُ بِهَا بَعْدَهُ ثُمَّ ذَكَرَ تَمَامَ الْحَدِيثِ

د جرير بن عبد الله رضی الله عنه نه روايت دې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. څوك چه ښهٔ طريقه رااوباسي، چه په هغې باندې ددهٔ نه روسته عمل کيږي (مخکښې) بيا ئې پوره حديث بيان کړو.

عَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ

د جرير رضی الله عنه د نبي ﷺ نه ددې حديث روايت دې.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي څوك چه د هدايت په طرف باندې بلنه ورکړي هغهٔ ته په هدايت باندې د چليدونکو ثواب هم ميلاؤ شو او په هدايت باندې د چليدونکو د

---

[1] خلاصه ددې حديث دا ده چه د کمو څيز په شرع کښې خوبي ثابته ده هغې له کهٔ رواج ورکړي نو زيات ثواب دې لکه د خيرات کولو خوبي چه د حضرت ﷺ د فرمان نه معلومه شوه او د هغه انصاري سړي نه هغه جاري شو. او دا مطلب نهٔ دې ددې چه د کوم کار اصل د شرع نه ثابت نهٔ وي او هغې لره خلق پخپل زړهٔ کښې يه اوګڼړي او رواج ورله ورکړي. او دا حديث د بدعت د خوبۍ دپاره دليل اونيسي (تحفة الاخيار) امام نووي ونيلي دي کوم سړې چه نيك کار جاري کړي اګر کهٔ دغه کار د هغهٔ نه مخکښې بل چا کړې وي. لکه تعليم علم يا عبادت يا ادب ددې خبرو دغه حکم دې خواه کهٔ خلق د هغهٔ په ژوند کښې په هغې باندې کوي يا د د هغهٔ د مرګ نه روستو په هره طريقه هغهٔ ته ثواب رسيږي.

ذٰلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا

ثواب نه څۀ نۀ کميږی او کوم سړے چه د ګناه په طرف دعوت ورکړی هغۀ ته په ګناه باندی د چليدونکو هومره ګناه ميلاويږی او د چليدونکو د ګناه نه څۀ نۀ کميږی.

كِتَابُ الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ

د ذکر الهی او د دُعاء او د توبې او د استغفار مسئلې

بَابُ الْحَثِّ عَلَى ذِكْرِ اللهِ تَعَالَى

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي وَأَنَا مَعَهُ حِينَ يَذْكُرُنِي إِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ هُمْ خَيْرٌ مِنْهُمْ وَإِنْ تَقَرَّبَ مِنِّي شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً

باب: د الله تعالى د ذکر کولو ترغیب

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله تعالی فرمائیلی دی زهٔ خپل بنده د خیال سره یم (یعنی د هغهٔ د گمان او اټکل سره نووی وائی یعنی په بخشش او قبلولو سره د هغهٔ ملگرے یم او توفیق او هدایت او حفاظت سره) هر کله چه هغه ما لره یادوی په زړهٔ کښی نو زهٔ هم هغهٔ لره په زړهٔ کښی یادوم او کهٔ هغه ما په مجمع کښی یادوی نو زهٔ هم هغهٔ لره په مجمع کښی یادوم چه هغه ددهٔ د مجمع نه غوره ده (یعنی د فرښتو په مجمع کښی) او هر کله چه بنده یو لویشت ما ته رانژدے کیږی نو زهٔ یو لاس هغهٔ ته ورنژدے کیږم. او هر کله چه هغه یو لاس ما ته رانژدے کیږی نو زهٔ یو باع (د دواړو لاسونو د خورولو برابر) دهٔ ته نژدے کیږم. او هر کله چه هغه څما خواته په قدم راځی (یعنی رورو راځی) نو زهٔ د هغهٔ خواله په منډه ورځم[1]

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ وَإِنْ

د اعمش نه په دے اسناد سره روایت دے مگر په دے کښی دا ذکر

---

[1] نووی وائی ددے حدیث نه معتزلو دلیل نیولے دے. چه فرښتے د پیغمبرانو نه غوره دی. او زمونږ د صحابو مذهب دادے چه پیغمبران د فرښتو نه غوره دی. او ددے حدیث نه غوره والے د فرښتو په پیغمبرانو باندے نهٔ راځی بلکه په نورو مومنانو باندے راځی ځکه چه په اکثر ذکر کولو والا کښی پیغمبر موجود نهٔ وی.

هر کله چه بنده یو لویشت ما ته نژدے کیږی نو زهٔ هغهٔ ته یو لاس نژدے کیږم. الخ نووی وائی دا حدیث د احادیث صفاتو نه دے او محال ده دلته ظاهری معنی (یعنی متعارف او مشهوره ظاهری معنی چه په مخلوق کښی گنړلے شی) او مطلب ددے دادے چه څوك ما ته نژدے کیږی په عبادت کښی زهٔ هغهٔ ته نژدے کیږم په رحمت توفیق او مدد سره. پس کچرے هغه زیات ما ته نژدے کیږی نو زهٔ پرے نور رحمت زیاتوم او منډه سره د راتلو نه دا مراد دے چه د رحمت دریاب په هغهٔ باندے بیهٔ وم. غرض دا چه د هغهٔ د عبادت نه زیات هغهٔ له اجر ورکوم (انتهی) نووی وائی د الله د ملگری کیدو نه کوم چه قرآن کښی راغلی دی (وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَمَا كُنْتُمْ) نه علم او احاطه سره ملگری کیدل مراد دی

تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا

نشته چه کچرے هغه ما ته يو لاس نژدے شی نو زۀ ده ته يو باع ته نژدے کيږم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ قَالَ إِذَا تَلَقَّانِي عَبْدِي بِشِبْرٍ تَلَقَّيْتُهُ بِذِرَاعٍ وَإِذَا تَلَقَّانِي بِذِرَاعٍ تَلَقَّيْتُهُ بِبَاعٍ وَإِذَا تَلَقَّانِي بِبَاعٍ أَتَيْتُهُ بِأَسْرَعَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی بيشکه الله تعالی ارشاد فرمائيلے دے هر کله چه يو بنده خما په طرف يو لويشت رامخکښ شی نو زۀ د هغۀ په طرف يو لاس ورمخکښ شم او هر کله چه هغه يو لاس رامخکښ شی نو زۀ يو باع ورمخکښ شم او هر کله چه هغه يو باع رامخکښ شی نو زۀ په تيزئ سره ورخم دهغۀ په طرف.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيرُ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ فَمَرَّ عَلَى جَبَلٍ يُقَالُ لَهُ جُمْدَانُ فَقَالَ سِيرُوا هَذَا جُمْدَانُ سَبَقَ الْمُفَرِّدُونَ قَالُوا وَمَا الْمُفَرِّدُونَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائی چه رسول اللهﷺ د مکے په لاره باندے روان وو. حضرتﷺ په يو غر باندے تير شو چه هغے ته به ئے جمدان (بضم جيم وسکون ميم) وئيلو. حضرتﷺ اوفرمائيل خئ دا جمدان دے مخکښ شوی دی مُفَرِّد خلق. خلقو عرض اوکړو يا رسول الله! مفرِّد څوك دی حضرتﷺ اوفرمائيل څوك سړی او ښځے چه د الله ياد ډير زيات کوی

بَابُ فِي أَسْمَاءِ اللهِ تَعَالَى

باب: د الله تعالی د نومونو بيان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلَّهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ اسْمًا مَنْ حَفِظَهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَإِنَّ اللهَ وِتْرٌ يُحِبُّ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ فرمائيلی دی د الله جل جلاله يو کم سل نومونه دی څوك چه دے لره ياد کړی هغه به جنت ته ځی او الله تعالی طاق دے او خوښوی طاق عدد لره[1]

---

[1] امام ابوالقاسم قشيریؒ وائی په دے کښ دليل دے چه اسم عين مسمی دے په دے واسطه چه کچرے غير وے نو هغه به د غير نومونه کيدو او الله تعالی فرمائيلی دی ولله الأسماء الحسنٰی خطابی وائی په تولو کښ مشهور الله دے ولے چه نور تول نومونه د الله په طرف نسبت ورکوی او مرزی دی چه اسم اعظم الله دے ابو القاسم طبری وئيلی دی چه تول نومونه د الله په طرف منسوب کيږی داسے وائی چه رؤف او کريم د الله نومونه دی او داسے نشی وئيلے چه د رؤف يا کريم نو الله دے او اتفاق کړے دے عُلَمانو چه په دے حديث کښ د الله د نومونو حصر نشته بلکه دده نه سوائے نور هم نومونه دی او مقصود دا دے چه دا يو کم سل نومونه چه څوك ياد کړی هغه به جنت ته ځی او ابن عربی مالکی وئيلی دی چه د الله زر نومونه دی او تعين د دغه نومونو مختلف فيه دے او ځنے وائی

الْوِتْرَ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ أَبِي عُمَرَ مَنْ أَحْصَاهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلاَّ وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَزَادَ هَمَّامٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه د الله یو کم سل نومونه دی. د سلو نه یو کم. څوك چه دے لره یاد کړی جنت ته به داخلیږی. د همام په روایت کښ کوم چه د ابوهریره نه دے په دے کښ دا زیاته ده چه الله طاق دے او طاق خوښوی.

بَابُ الْعَزْمِ بِالدُّعَاءِ وَ لاَ يَقُلْ إِنْ شِئْتَ

باب: دُعا کلکه غوښتل پکار دی او دا نۀ دی وئیل پکار چه (اے الله) کۀ تۀ اوغواړے

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلْيَعْزِمْ فِي الدُّعَاءِ وَلاَ يَقُلِ اَللَّهُمَّ إِنْ شِئْتَ فَأَعْطِنِي فَإِنَّ اللهَ لاَ مُسْتَكْرِهَ لَهُ

د انسؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه څوك ستاسو نه دُعا کوی نو قطعی طور د دُعا کوی (یعنی داسے د وائی چه یا الله اوبخښے مالره) او داسے د نۀ وائی چه کچرے تۀ غواړے اوبخښے مالره. ځکه چه په الله تعالی باندے څوك خبر کولو والا نشته دے (نو هغه چه څۀ کار کوی پخپله خوشحالئ او مرضئ سره ئے کوی نو بنده ته دے شرط ایخودلو څۀ ضرورت دے. دد ے نه یو قسم له بے پروائی معلومیږی. غلام له پکار دی چه

مخفی دے لکه د شب قدر او اسم اعظم . او د یادولو نه مراد حفظ کول دی. او ځنے وائی دُعا کول دی په دے نومونو سره. او ځنو وئیلی دی ایمان راوړل او تابعداری کول او عمل کول دی. او الله تعالی خوښوی طاق عدد لره او هم په دے وجه اکثر عبادتونه طاق دی. لکه پنځه مونځونه . درے خله طهارت . اووه ځله طواف او اوۀ خله سعی ایام تشریق هم درے دی اووۀ خله رمی او د زکوٰة نصاب پنځۀ وسقه یا پنځه اوقیه یا پنځلاوښان. (نووی مختصراً) په حصن حصین کښ دا یو کم سل نومونه داسے ذکر دی هُوَ اللهُ الَّذِي لاَ إِلٰهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيمُ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلاَمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ الْغَفَّارُ الْقَهَّارُ الْوَهَّابُ الرَّزَّاقُ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الْخَافِضُ الرَّافِعُ الْمُعِزُّ الْمُذِلُّ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ الْحَكَمُ الْعَدْلُ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ الْحَلِيمُ الْعَظِيمُ الْغَفُورُ الشَّكُورُ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ الْحَفِيظُ الْمُقِيتُ الْحَسِيبُ الْجَلِيلُ الْكَرِيمُ الرَّقِيبُ الْمُجِيبُ الْوَاسِعُ الْحَكِيمُ الْوَدُودُ الْمَجِيدُ الْبَاعِثُ الشَّهِيدُ الْحَقُّ الْوَكِيلُ الْقَوِيُّ الْمَتِينُ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ الْمُحْصِي الْمُبْدِئُ الْمُعِيدُ الْمُحْيِي الْمُمِيتُ الْحَيُّ الْقَيُّومُ الْوَاجِدُ الْمَاجِدُ الْوَاحِدُ الصَّمَدُ الْقَادِرُ الْمُقْتَدِرُ الْمُقَدِّمُ الْمُؤَخِّرُ الْأَوَّلُ الْآخِرُ الظَّاهِرُ الْبَاطِنُ الْوَالِي الْمُتَعَالِي الْبَرُّ التَّوَّابُ الْمُنْتَقِمُ الْعَفُوُّ الرَّؤُوفُ مَالِكُ ذُوالْجَلاَلِ وَالْإِكْرَامِ الْمُقْسِطُ الْجَامِعُ الْغَنِيُّ الْمُغْنِي الْمَانِعُ الضَّارُّ النَّافِعُ النُّورُ الْهَادِي الْبَدِيعُ الْبَاقِي الْوَارِثُ الرَّشِيدُ

د خپل مالك نه په عاجزئ عاجزئ سره اوغواړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلَا يَقُلِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ وَلٰكِنْ لِيَعْزِمِ الْمَسْأَلَةَ وَلْيُعَظِّمِ الرَّغْبَةَ فَإِنَّ اللهَ لَا يَتَعَاظَمُهُ شَيْءٌ أَعْطَاهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي هر كله چه څوك ستاسونه دُعا كوي نو داسے دِ نۀ وائي چه يا الله كۀ تۀ غواړے نو مالره اوبخښه بلكه د مطلب حاصليدو په يقين سره دِ غواړي. ځكه چه د الله تعالى په نز د هيڅ يو شے دومره لوئے نۀ دے چا له چه ئے هغه وركوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي إِنْ شِئْتَ لِيَعْزِمْ فِي الدُّعَاءِ فَإِنَّ اللهَ صَانِعٌ مَا شَاءَ لَا مُكْرِهَ لَهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي څوك د ستاسو نه داسے نۀ وائي چه يا الله ما اوبخښے كچرے تۀ غواړے. يا الله په ما رحم اوكړه كچرے تۀ غواړے. بلكه په صفا طور سره بغير د شرط نه غواړي؛ ځكه چه الله تعالى چه څۀ اوغواړي هغه كوي څوك هم په هغۀ باندے زور اچولو والا نشته

بَابُ كَرَاهَةِ تَمَنِّي الْمَوْتِ

باب : د مرګ آرزو كول منع دي

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لِضُرٍّ نَزَلَ بِهِ فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ مُتَمَنِّيًا فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي

د انسؓ نه روايت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي ستاسو نه څوك د مرګ آرزو نۀ كوي د څۀ افت د وجے نه چه په هغۀ باندے راشي كچرے داسے خواهش لري؛ نو داسے وايي: يا الله ژوندے لره ما د كومے پورے چه ژوند خما دپاره غوره وي. او مړ كړه ما لره هر كله چه مرګ خما دپاره غوره وي

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ مِنْ ضُرٍّ أَصَابَهُ

د انسؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ د پورتني حديث پشان اوفرمائيل. مګر په دے كښې دا دي چه حضرتﷺ اوفرمائيل چه د څۀ تكليف نه كوم چه دۀ ته رسي.

عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ وَأَنَسٌ يَوْمَئِذٍ حَيٌّ قَالَ أَنَسٌ لَوْلَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د نضر بن انس نه روايت دے او انسؓ هم په دغه ورخو ژوندے وو، هغۀ به وئيل كچرے رسول اللهﷺ د مرګ د آرزو نه منع نۀ وے

لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لِتَمَنِّيهِ

فرمائيلي نو مونږ ته د مرګ آرزو کوئ[1]

عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى خَبَّابٍ وَقَدِ اكْتَوَى سَبْعَ كَيَّاتٍ فِي بَطْنِهِ فَقَالَ لَوْ مَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَانَا أَنْ نَدْعُوَ بِالْمَوْتِ لَدَعَوْتُ بِهِ

د قيس بن ابى حازم نه روايت دے وائى چه مونږ د خباب بن الارت خواله لاړو هغه اوۀ داغونه لګولى وو (د څۀ بيمارئ د وجے نه) پخپله ګيډه باندے. نو اونے وئيل کچرے رسول الله ﷺ مونږ منع کړے نۀ وے د مرګ د تمنا کولو نه نو ما به د مرګ دپاره دُعا کړے وے.

عَنْ إِسْمٰعِيلَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د اسمعيلؒ نه په دے اسناد سره روايت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ وَلَا يَدْعُ بِهِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَهُ إِنَّهُ إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ وَإِنَّهُ لَا يَزِيدُ الْمُؤْمِنَ عُمُرُهُ إِلَّا خَيْرًا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل څوك د ستاسو نه د مرګ آرزو نۀ کوى. او نۀ د د مرګ راتلو نه مخکښ د مرګ دُعا کوى ځکه چه څوك ستاسو نه مړ شى نو د هغۀ عمل ختم شى. او د مؤمن په عمر زياتيدو سره د هغۀ نيکئ زياتيږى (ولے چه هغه زياتے نيکئ اوکړى)

بَابُ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ

باب: کوم سړے د الله تعالى سره د ملاويدو آرزو لرى

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ كَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ

د عباده بن صامتؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى څوك چه د اللهؓ سره ملاقات خوښه وى الله تعالى هم د هغۀ سره ملاقات خوښه وى. او څوك چه د اللهؓ سره ملاقات نۀ خوښه وى الله هم د هغوى سره ملاقات نۀ خوښه وى.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ

د عباده بن صامتؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ د پورتنى حديث په مثل اوفرمايۀ.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ كَرِهَ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى څوك چه د اللهؓ سره ملاقات کول غواړى الله هم د هغۀ سره ملاقات کول غواړى او څوك چه ورسره ميلاويدل نۀ

---

[1] نوويؒ وائى کچرے د دين آفت وى يا په فتنه کښ د اخته کيدو يره وى نو دغه وخت د مرګ آرزو کول جائز دى او داسے د سلفو خنے خلقو کړى دى دد دين د خرابيدو د يرے نه ليکن غوره داده چه صبر اوکړى او په تقدير د الهى سره راضى شى.

اللهُ لِقَاءَهُ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ أَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ فَكُلُّنَا نَكْرَهُ الْمَوْتَ فَقَالَ لَيْسَ كَذٰلِكِ وَلٰكِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا بُشِّرَ بِرَحْمَةِ اللهِ وَرِضْوَانِهِ وَجَنَّتِهِ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ فَأَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا بُشِّرَ بِعَذَابِ اللهِ وَسَخَطِهِ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ وَكَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ

غواړی الله هم د هغهٔ سره میلاویدل نهٔ غواړی. ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ! مرګ خو مونږ ټول نهٔ غوره کوو. حضرت ﷺ اوفرمائیل خما مطلب دا نهٔ دے بلکه مؤمن ته (چه هر کله د هغهٔ آخری وخت راشی) خوشخبری ورکولے شی د الله د رحمت او رضامندئ او جنت نو هغه د الله سره میلاویدل غواړی (اودبیمارئ اوددنیا د مکروهاتو نه زر خلاصے موندل غواړی) الله هم د هغهٔ سره میلاویدل غواړی. او کافر ته (هر کله چه د هغهٔ آخر وخت راشی) خبر ورکړے شی د الله د عذاب او غصے نو هغه د الله سره میلاویدل نهٔ غوره کوی او الله هم د هغهٔ سره میلاویدل نهٔ غواړی.

عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ كَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ وَالْمَوْتُ قَبْلَ لِقَاءِ اللهِ

د قتادهٔ نه په دے اسناد سره د عائشے نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه د الله سره میلاویدل غواړی الله هم د هغهٔ سره میلاویدل غواړی او کوم سړے چه د الله سره میلاویدل نهٔ غواړی الله هم د هغهٔ سره میلاویدل نهٔ غواړی. او مرګ مخکښې وی بیا د الله تعالی سره ملاقات وی.

عَنْ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بِمِثْلِهِ

د حضرت عائشے نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د پورتنی حدیث پشان اوفرمایهٔ

عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ كَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ قَالَ فَأَتَيْتُ عَائِشَةَ فَقُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَذْكُرُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا إِنْ كَانَ كَذٰلِكَ فَقَدْ هَلَكْنَا فَقَالَتْ إِنَّ

شریح بن هانی د ابوهریرهٔ نه روایت کړے دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه د الله د ملاقات آرزو لری الله هم د هغهٔ سره ملاقات کوی او څوک چه د الله سره میلاویدل نهٔ غواړی الله هم د هغهٔ سره میلاویدنه غوره کوی. ما دا حدیث د ابوهریرهٔ نه واوریدهٔ او د حضرت عائشے خواله لاړمه او ورته مے عرض اوکړو اے د مؤمنانو مور ابوهریرهٔ مونږ ته دا حدیث د رسول الله ﷺ بیان کړو کهٔ دا حدیث ټهیک وی نو مونږ ټول تباه شو. هغوی اوویے د

الْهَالِكَ مَنْ هَلَكَ بِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا ذَاكَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ كَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ وَلَيْسَ مِنَّا أَحَدٌ إِلَّا وَهُوَ يَكْرَهُ الْمَوْتَ فَقَالَتْ قَدْ قَالَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ بِالَّذِي تَذْهَبُ إِلَيْهِ وَلَكِنْ إِذَا شَخَصَ الْبَصَرُ وَحَشْرَجَ الصَّدْرُ وَاقْشَعَرَّ الْجِلْدُ وَتَشَنَّجَتِ الْأَصَابِعُ فَعِنْدَ ذَلِكَ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ كَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ

رسول الله ﷺ په فرمان سره چه څوك هلاك شو هغه په حقيقت كښې هلاك شو اووايه ته هغه څۀ دي ما اووے رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه څوك د الله سره ميلاويدل غواړى الله هم د هغۀ سره ميلاويدل غواړى. او په موږ كښې خو يو داسے نشته دےچه هغه مرګ بد نۀګڼړى. حضرت عائشےؓ اووے بيشكه رسول الله ﷺ دا فرمائيلى دى خو ددے مطلب دا نۀ دے كوم چه ستا خيال دے. بلكه هر كله چۀ سترګے كږے شي او په سينه كښې دم ختم شي او د بدن ويښتۀ نيغ نيغ شي او ګوتے كږے شي (يعنى د نزع په حالت كښې) دغه وخت چه څوك د الله سره ملاقات غوره كوى الله هم د هغۀ سره ميلاويدل غوره كوى او څوك چه د الله سره ميلاويدل نۀ غوره كوى الله هم د هغۀ سره ميلاويدل نۀ غوره كوى.

عَنْ مُطَرِّفٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ عَبْثَرٍ

د مطرف نه په دے اسناد سره د عبثر د حديث پشان روايت دے.

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ كَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ

د ابوموسىٰؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. كوم سړے د الله تعالى د ملاقات خواهش لرونكے وى الله تعالى هم ددۀ ملاقات لره خوښه وى او څوك چه د الله تعالى ملاقات لره نۀ خوښه وى الله تعالى هم د هغۀ ملاقات نۀ خوښه وى.

بَابُ فَضْلِ الذِّكْرِ وَالتَّقَرُّبِ إِلَى اللهِ تَعَالَى

باب: د الله تعالى ياد او د نزديكت فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يَقُولُ أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي وَأَنَا مَعَهُ إِذَا دَعَانِي

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى الله فرمائى زۀ د خپل بنده په خيال كښې يم او زۀ د هغۀ سره يم (په علم او سمع او مدد او توفيق او اجابت سره) هر كله چه هغه ما اوغواړى.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا تَقَرَّبَ عَبْدِي مِنِّي شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه الله تعالى فرمائى هر كله چه يو بنده يو لويشت ما ته رانږدے كيږى نو زۀ هغۀ ته د يو لاس برابر نږدے كيږم. او هر كله چه هغه ما ته يو لاس

ذِرَاعًا وَإِذَا تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا أَوْ بُوعًا وَإِذَا أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً

رانژدے کیږی نو زۀ یو باع یا یو بوع (د دواړو خوړو لاسونو) برابر هغۀ ته نژدے کیږم. او هر کله چه هغه خما خواله په قدم راځی نو زۀ هغۀ له په منډه ورځم[1].

عَنْ مُعْتَمِرٍ عَنْ أَبِيهِ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ إِذَا أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً

معتمر د خپل پلار نه روایت کړے دے په دے اسناد سره. په دے کښ دا ذکر نشته چه هر کله هغه راځی په رو خما خواله

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي وَأَنَا مَعَهُ حِينَ يَذْكُرُنِي فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُ وَإِنِ اقْتَرَبَ إِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا وَإِنِ اقْتَرَبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا اقْتَرَبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً

د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی فرمائی زۀ د خپل بنده د گمان سره یم او زۀ د هغۀ سره یم هر کله چه هغه ما یادوی. کچرے هغه ما په خپل زړۀ کښ یادوی نو زۀ هم هغۀ له په خپل زړۀ کښ یادوم کچرے هغه ما په یو ټولی کښ یادوی نو زۀ هغۀ له د دغه ټولی نه په غوره ټولی کښ یادوم او کچرے هغه ما ته یو لویشت نژدے کیږی نو زۀ هغۀ ته یو لاس نژدے کیږم او کچرے هغه ما ته یو لاس نژدے کیږی نو زۀ هغۀ ته یو باع کیږم. او کچرے هغه ماله په قدم راځی نو زۀ هغۀ له په منډه سره ورځم.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا وَأَزِيدُ وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَجَزَاؤُهُ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا أَوْ أَغْفِرُ وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا وَمَنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً وَمَنْ لَقِيَنِي بِقُرَابِ الأَرْضِ خَطِيئَةً لاَ يُشْرِكُ بِي شَيْئًا

د ابوذر ﷺ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله فرمائی څوک چه یوه نیکی اوکړی نو زۀ د هغۀ لس نیکئ اولیکم یا زیاتے او څوک چه یوه بدی اوکړی نو بدله د هغے هغه یوه اولیکلے شی یائے معاف کړم. او څوک چه ما ته یو لویشت نژدے کیږی نو زۀ هغۀ ته یو لاس نژدے کیږم. او څوک چه ما ته یو لاس نژدے کیږی نو هغۀ ته زۀ یو باع نژدے کیږم. او څوک چه خما خواله په قدم راځی نو زۀ د هغۀ خواله په منډه ورځم او څوک چه خما سره میلاؤ شی د ډکے زمکے گناهونو سره لیکن شرک ئے نۀ وی کړے. نو زۀ د هغۀ سره

[1]: دا حدیث سره د شرح پورته تیر شوے دے.

لَقِيتُهُ بِمِثْلِهَا مَغْفِرَةً

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا أَوْ أَزِيدُ

دغې هومره بخشش سره ميلاويږم[1]

د اعمش نه په دے اسناد سره دغسې روايت دے. مګر په دے کښې دي حضرت ﷺ اوفرمائيل. ددۀ دپاره ددے نه لس چنده زيات دي يا ددے نه به هم زيات کومه

بَابُ كَرَاهَةِ الدُّعَاءِ بِتَعْجِيلِ الْعُقُوبَةِ فِي الدُّنْيَا

باب: په دنيا کښې د زر عذابيدو دُعا کول مکروه دي

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَادَ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَدْ خَفَتَ فَصَارَ مِثْلَ الْفَرْخِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ كُنْتَ تَدْعُو بِشَيْءٍ أَوْ تَسْأَلُهُ إِيَّاهُ قَالَ نَعَمْ كُنْتُ أَقُولُ اَللّٰهُمَّ مَا كُنْتَ مُعَاقِبِي بِهِ فِي الْآخِرَةِ فَعَجِّلْهُ لِي فِي الدُّنْيَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ اللّٰهِ لَا تُطِيقُهُ أَوْ لَا تَسْتَطِيعُهُ أَفَلَا قُلْتَ اَللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ قَالَ فَدَعَا اللّٰهَ لَهُ فَشَفَاهُ

د انس رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د يو مسلمان تپوس ته لاړه چه د بيمارئ نه د چرګوړي پشان شوے وو (يعنې ډير ضعيف او کمزورے شوے وو) حضرت ﷺ هغۀ ته اوفرمائيل تا څۀ دُعا کړے وه يا د الله نه څۀ سوال کړے وو. هغۀ اووے آو. دا مے وئيلي وو چه يا الله څومره چه ته ما لره په آخرت کښې عذابوے هغه په دے دنيا کښې راکړه. رسول الله ﷺ اوفرمائيل سبحان الله! ستا دومره طاقت چرته دے چه د الله عذاب اوچت کړے شے (په دنيا کښې) تا داسے ولے نۀ وے چه يا الله ماله په دنيا کښې هم نيکي راکړے او په آخرت کښې هم نيکي راکړه او بچ کړه ما لره د جهنم د عذاب نه بيا حضرت ﷺ د هغۀ دپاره دُعا اوکړه او الله تعالى هغۀ له شفا ورکړه[2].

---

[1] سبحٰن الله د مالك عزوجل څومره عنايت او پرورش او څومره رحمت دے په خپلو غلامانو باندے. اے خما مالکه خما مولى خما اقا خما سرداره خما دومره ګناهونه دي چه د زمکے نه هم شايد چه ډير وي. او يو عبادت مے داسے نشته دے چه ستا په دربار کښې د پيش کولو لائق وي. پس زۀ څۀ اوکړم خما اعتماد خو ستا په دے حديث باندے دے. زۀ ستا سره شريك هيڅوك نۀ ګرځوم او د شرك نه پتا باندے پناه غواړم اے خما الله! هر کله چه زۀ ستا غلام يم او ستا غلامي خپل عزت ګڼړم بيا زۀ يو بل غلام ستا برابر څنګه کولے شم په دواړو جهانونو کښې ټول ستا غلامان دي. ته يواځے مالك او آقا ئے زۀ د آقا نه علاوه د غلامانو نه ولے اوغواړم د غلامانو عبادت ولے اوکړم عبادت لائق غلام څنګه کيدے شي. د عبادت لائق خو مالك او آقا وي بل مالك او آقا ستا نه علاوه هيڅوك نشته.

[2] دا د بنده کم عقل توب دے چه د مالك نه داسے سوال کوي چه د آخرت په بدله کښې په دنيا کښې عذاب ورکړي د بنده قدرت څۀ دے هغه د مالك عذاب لره څنګه برداشت کولے شي. اے خما مالکه ته پوهه ئے چه زۀ څومره کمزورے او ناتوانه يم. خما زړۀ څومره

عَنْ حُمَيْدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ إِلٰى قَوْلِهِ وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ وَلَمْ يَذْكُرِ الزِّيَادَةَ

د ابی حمید نه روایت دے په دے اسناد سره. وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلٰى رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِهِ يَعُودُهُ وَقَدْ صَارَ كَالْفَرْخِ بِمَعْنٰى حَدِيثِ حُمَيْدٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ لَا طَاقَةَ لَكَ بِعَذَابِ اللّٰهِ وَلَمْ يَذْكُرْ فَدَعَا اللّٰهَ لَهُ فَشَفَاهُ

د حضرت انس نه روایت دے رسول الله ﷺ د یو صحابی خواله د هغهٔ عیادت دپاره تشریف یوړو چه (د تکلیف د وجے نه) د چرګوټی پشان شوے وو (مخکښی حدیث) د حمید د حدیث پشان مګر په دے کښی دی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په تاکښی د الله د عذاب د برداشت کولو طاقت نشته دے. او دا ذکر ئے نه دے کړے چه حضرت ﷺ د هغهٔ دپاره دُعا اوفرمائیله نو الله تعالی هغهٔ ته شفا ورکړه.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيثِ

حضرت انس د رسول الله ﷺ نه دا حدیث روایت کړو.

بَابُ فَضْلِ مَجَالِسِ الذِّكْرِ

باب: ذکر الهی په کوم مجلس کښی وی د هغے فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ لِلّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى مَلَائِكَةً سَيَّارَةً فُضُلًا يَتَتَبَّعُونَ مَجَالِسَ الذِّكْرِ فَإِذَا وَجَدُوا مَجْلِسًا فِيهِ ذِكْرٌ قَعَدُوا مَعَهُمْ وَحَفَّ بَعْضُهُمْ بَعْضًا بِأَجْنِحَتِهِمْ حَتّٰى يَمْلَئُوا مَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَإِذَا تَفَرَّقُوا عَرَجُوا وَصَعِدُوا إِلَى السَّمَاءِ قَالَ

د ابوهریره نه روایت دے چه د الله تعالی څهٔ فرښتے دی چه هغه سیل کوی ګرځی نور څهٔ کار د هغوی نشته دے. هغوی د ذکر الهی مجلسونه تلاش کوی پس هر کله چه یو مجلس اومومی چه په هغے کښی د الله ذکر کیږی هلته کیښنی. او یو په یو راغوریږی تردے پورے چه د هغوی په وزرو باندے د زمکے نه واخله د اسمانه پورے ځائے ډک شی. هر کله چه خلق د هغهٔ مجلس نه جدا شی. نو هغه فرښتے پورته خیژی او آسمان ته لاړے شی. پروردګار جل شانه ترے تپوس کوی چه تاسو د کوم ځائے نه راغلئ حالانکه هغه ښهٔ خبر دے. هغه عرض

کمزورے دے د لرے شان بیماری او تکلیف مصیبت هم برداشت نهٔ شی کولے. ته په خپل فضل او کرم او د خپل بادشاهت په صدقه سره خپل دے غلام له آزاد کړه ددنیا او آخرت د تکلیف نه اے خما بادشاه زهٔ ستا صدقه یم ما بچ کړه ددنیا او آخرت د دواړو صدمو نه او ما پخپله پناه کښی کړه د هر یو تکلیف درد او بیماری د عذاب نه ستا پناه ډیره مضبوطه ده. اے خما مالکه ستا دے غلام ته ستا نه سوا د بل چا پناه نه په کار راځی نهٔ دے غلام ته سوا ستا د پناه نه د بل چا غلام پناه پکار ده.

فَيَسْأَلُهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ
مِنْ أَيْنَ جِئْتُمْ فَيَقُولُونَ جِئْنَا مِنْ عِنْدِ
عِبَادٍ لَكَ فِي الْأَرْضِ يُسَبِّحُونَكَ
وَيُكَبِّرُونَكَ وَيُهَلِّلُونَكَ وَيَحْمَدُونَكَ
وَيَسْأَلُونَكَ قَالَ وَمَاذَا يَسْأَلُونِي قَالُوا
يَسْأَلُونَكَ جَنَّتَكَ قَالَ وَهَلْ رَأَوْا جَنَّتِي
قَالُوا لَا أَيْ رَبِّ قَالَ فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا
جَنَّتِي قَالُوا وَيَسْتَجِيرُونَكَ قَالَ وَمِمَّ
يَسْتَجِيرُونَنِي قَالُوا مِنْ نَارِكَ يَا رَبِّ
قَالَ وَهَلْ رَأَوْا نَارِي قَالُوا لَا قَالَ
فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا نَارِي قَالُوا
وَيَسْتَغْفِرُونَكَ قَالَ فَيَقُولُ قَدْ غَفَرْتُ
لَهُمْ فَأَعْطَيْتُهُمْ مَا سَأَلُوا وَأَجَرْتُهُمْ
مِمَّا اسْتَجَارُوا قَالَ فَيَقُولُونَ رَبِّ
فِيهِمْ فُلَانٌ عَبْدٌ خَطَّاءٌ إِنَّمَا مَرَّ فَجَلَسَ
مَعَهُمْ قَالَ فَيَقُولُ وَلَهُ غَفَرْتُ هُمُ
الْقَوْمُ لَا يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ

اوکړي چه مونږ ستا د بندیګانو د خوانه راغلو هغوی د زمکے دپاسه ستا پاکي بیانوله او ستا لوئ او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللہ ئې ستا د تعریف سره کولو (یعنی سُبْحٰنَ اللہِ وَالحمد للہ وَلَآ اِلٰہَ اِلَّا اللہُ وَاللہُ اکبر ئې لوستلو) او ستا نه ئې څۀ غوښتل. اللہ اوفرمائی څما نه څۀ غواړي. فرښتے عرض اوکړي ستا نه جنت غواړي. اللہ فرمائی ولے دوی څما جنت لیدلے دے؟ فرښتے عرض اوکړي هغوی ستا جنت نۀ دے لیدلے اے پروردګاره. اللہ اوفرمائی کچرے دوی څما جنت لیدلے وے نو څۀ حال به ئې وو. فرښتے عرض اوکړي هغه پتا سره پناه غواړي. پروردګار اوفرمائی د څۀ څیز نه پناه غواړي؟ فرښتے عرض اوکړي د اُور نه اے زمونږ پروردګاره. پروردګار اوفرمائی. ولے هغوی څما اُور لیدلے دے. فرښتے اووائی نه پروردګار اوفرمائی. کچرے دوی څما اُور لیدلے وے نو څۀ حال به ئې وو. فرښتے عرض اوکړي هغوی ستا بخشش غواړي. پروردګار اوفرمائی (په صدقه کښې د خپل کرم او فضل او عنایت ما هغوی لره اوبخښل. او څۀ چه غواړي هغه مے ورکړل او د څۀ نه چه پناه غواړي د هغے نه مے پناه ورکړه. فرښتے بیا عرض اوکړي اے زمونږ مالکه په دغه خلقو کښې یو فلانے بنده هم وو چه هغه ګنهګار دے هغه په دوی تیریدو چه ورسره کیښناستو پروردګار اوفرمائی ما هغه هم اوبخښلو هغه خلق داسے دي چه د هغوی ملګرے بدنصیبه کیدے نۀ شي[1].

---

[1] ددے حدیث نه دا ثابته شوه چه ذاتِ الٰهی زمونږ دپاسه دے د آسمانونو دپاسه په عرش باندے. نور ددے حدیث نه د ذکر الٰهی فضیلت او د ذاکرینو په مجلس کښې د کیناستو فضیلت معلوم شو. ذکر په دوه قسمه دے یو په ژبه سره او بل په زړۀ سره. او اختلاف دے چه کوم یو غوره دے. لیکن صحیح داده چه په پټه ژبه سره ذکر کول د زړۀ د اخلاص سره د ټولو نه افضل دے. او ذکرِ قلبی لره هم ملائك لیکي او د هغے یوه نخښه ده چه په هغے سره ملائکے دۀ لره پیژني. (نووي مختصراً)

بَابُ أَكْثَرِ دُعَائِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَهُوَ ابْنُ صُهَيْبٍ قَالَ سَأَلَ قَتَادَةُ أَنَسًا أَيُّ دَعْوَةٍ كَانَ يَدْعُو بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرَ قَالَ كَانَ أَكْثَرُ دَعْوَةٍ يَدْعُو بِهَا يَقُولُ اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ قَالَ وَكَانَ أَنَسٌ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ بِدَعْوَةٍ دَعَا بِهَا فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ بِدُعَاءٍ دَعَا بِهَا فِيهِ

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ

باب: حضرت ﷺ به اکثره کومه دُعا کوله

د عبد العزیز بن صهیب نه روایت دے وائی چه قتاده د انسؓ نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ به کومه دُعا زیاته غوښتلله. انسؓ اووے حضرتؐ به اکثر دا دُعا غوښتله. اَللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ او انسؓ چه به هم دُعا غوښتله نو دا دُعا به ئے غوښتله. او هر کله چه به ئے بله یوه دُعا کوله نو په هغے کښې به ئے هم دا دُعا میلاووله [1].

د انسؓ نه روایت دے وائی چه اکثر د حضرتؐ دا دعا وه رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ اے خما پالونکیه مونږ له په دنیا کښې نیکی راکړه او په آخرت کښې نیکی راکړه او اوساته مونږ د عذاب د أور نه

بَابُ فَضْلِ التَّهْلِيلِ وَالتَّسْبِيحِ وَالدُّعَاءِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذَلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلَّا أَحَدٌ عَمِلَ

باب: د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ او د سُبْحَانَ اللهِ او د دُعا فضیلت

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ په یوه ورځ کښې سل خله اولولی. نو د هغهٔ به دومره ثواب وی لکه چه غلامان آزاد کړی لس کسان. او سل نیکئ به د هغهٔ اولیکلے شی او سل بدئ به د هغهٔ ورانے کړے شی. او د شیطان نه به هغه توله ورځ بچ پاتے شی. او هیڅوک به په دغه ورځ د هغهٔ نه زیات عمل والانهٔ وی مگر هغه کوم چه دده نه زیات عمل اوکړی (یعنی د غه تسبیح د سلو خلو نه زیاته اووائی یا نور د خیر عملونه

[1] دا دُعا مختصر او جامع ده ددنیا او آخرت دواړو د خوبئ سوال په دے کښې موجود دے. دد ے وجے نه به رسول الله ﷺ دا زیاته لوستله

أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَمَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَلَوْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ

زيات اوكړي، او كوم بنده چه سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ په يوه ورځ كښې سل خله اووائي د هغۀ ګناهونه به وران كړے شي اګر كۀ دغه ګناه د سمندر د ځګ برابر وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ لَمْ يَأْتِ أَحَدٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلاَّ أَحَدٌ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ عَلَيْهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي څوك چه سحر او ماښام سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سل سل خله وائي د قيامت په ورځ به د هغۀ نه غوره هيڅ يو عمل څوك را نۀ وړي. مګر څوك چه دومره يا ددے نه زيات اووائي.

عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ قَالَ مَنْ قَالَ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ عَشْرَ مِرَارٍ كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ أَرْبَعَةَ أَنْفُسٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمٰعِيلَ وَقَالَ سُلَيْمَانُ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي السَّفَرِ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ رَبِيعِ بْنِ خُثَيْمٍ بِمِثْلِ ذٰلِكَ قَالَ فَقُلْتُ لِلرَّبِيعِ مِمَّنْ سَمِعْتَهُ قَالَ مِنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ قَالَ فَأَتَيْتُ عَمْرَو بْنَ مَيْمُونٍ فَقُلْتُ مِمَّنْ سَمِعْتَهُ قَالَ مِنِ ابْنِ أَبِي لَيْلٰى قَالَ فَأَتَيْتُ ابْنَ أَبِي لَيْلٰى فَقُلْتُ مِمَّنْ سَمِعْتَهُ قَالَ مِنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ يُحَدِّثُهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عمرو بن ميمونؒ نه روايت دے وائي رسول الله ﷺ فرمائيلي دي څوك چه لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لس خله اووائي نو داسے شوه لكه چه څلور سړي د اسمٰعيل عليه السلام د اولاد نه آزاد كړي. سُليمان وئيلي دي موږ ته ابوعامر حديث بيان كړے دے هغوی ته عمر، هغوی ته عبد الله بن ابی السفر هغوی د شعبی نه روايت كړے دے او شعبی د ربيع بن خيثم نه دغسے حديث روايت كړے دے. شعبی وئيلي دي ما ربيع ته اووے تا د چا نه اوريدلی دی هغوی اووے د عمرو بن ميمون نه شعبی اووے زۀ د عمرو بن ميمون خواله راغلم او ورته مے اووے تا د چا نه اوريدلی دی هغوی اووے. د ابن ابی ليلیٰؒ نه بيا زۀ د ابن ابی ليلیٰؒ خواله راغلم او ورته مے اووے تا د چا نه اوريدلی دی هغوی اووے د ابوايوب انصاریؓ نه چه حديث ئے بيان وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي دوه كلمے دي چه په ژبه باندے سپكے دي او د قيامت په ورځ په تله

الْمِيزَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمٰنِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ

كښې به درنې وي او ډيرې خوښې دي پروردګار ته (هغه دادي) سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ أَقُولَ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي كچرے زۀ اووايم سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ نو دا ماته زيات غوره دي د هغه تولو څيزونو نه چه په هغې باندې نمر راخيژي

عَنْ سَعْدٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَلِّمْنِي كَلَامًا أَقُولُهُ قَالَ قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ قَالَ فَهٰؤُلَاءِ لِرَبِّي فَمَا لِي قَالَ قُلِ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي قَالَ مُوسَى أَمَّا عَافِنِي فَأَنَا أَتَوَهَّمُ وَمَا أَدْرِي وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ فِي حَدِيثِهِ قَوْلَ مُوسَى

د سعدؓ نه روايت دے چه يو بانډيچي د رسول الله ﷺ خواله راغې او اوئې وئيل چه ما ته څۀ كلام اوښايئ چه هغې لره زۀ وايم. حضرت ﷺ اوفرمائيل دا وايه لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ هغه بانډيچي اووے په دے كلمو كښې خو خما د مالك تعريف دے خما دپاره ما ته اوښايئ. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه وايه اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي. موسیٰ وائي چه دد دے حديث راوي دے چه عَافِنِي خما په خيال كښې راځي خو ياد راته نۀ دے.

عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُ مَنْ أَسْلَمَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي

د ابومالك اشجعیؓ نه روايت دے هغوی د خپل پلار نه روايت كوی وائي چه رسول الله ﷺ چه به هر څوك مسلمان شو نو هغۀ ته به ئې دا دُعا ښودله. اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي.

عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ عَلَّمَهُ النَّبِيُّ ﷺ الصَّلَاةَ ثُمَّ أَمَرَهُ أَنْ يَدْعُوَ بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي

د ابومالك اشجعیؓ نه روايت دے چه كوم سړے به مسلمانيدۀ رسول الله ﷺ به هغۀ ته مونځ خودلو. بيا به ئې ورته دد دے كلمو سره د دُعا كولو حكم اوكړو. اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي

عَنْ أَبِيْ مَالِكٍ الأَشْجَعِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ أَقُولُ حِينَ أَسْأَلُ رَبِّي قَالَ قُلِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي وَيَجْمَعُ أَصَابِعَهُ إِلَّا الإِبْهَامَ فَإِنَّ هَؤُلَاءِ تَجْمَعُ لَكَ دُنْيَاكَ وَآخِرَتَكَ

د ابومالك اشجعي نه روايت دے هغوی اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه د حضرت ﷺ خواله يوسړے راغے او عرض ئے اوکړو چه يا رسول الله! زۀ څۀ وايم هر کله چه د خپل رب نه غوارم. حضرت اوفرمائيل وايه چه قُلِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي او حضرت ﷺ به دد ے کلمو د لوستلو په وخت يوه يوه ګوته بندوله پس تولے ئے بندے کړے علاوه د غټے ګوتے نه بيائے اوفرمائيل دا کلمے به ددنيا او اخرت دواړه فائدے ستا دپاره جمع کوی.

عَنْ سَعْدٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَكْسِبَ كُلَّ يَوْمٍ أَلْفَ حَسَنَةٍ فَسَأَلَهُ سَائِلٌ مِنْ جُلَسَائِهِ كَيْفَ يَكْسِبُ أَحَدُنَا أَلْفَ حَسَنَةٍ قَالَ يُسَبِّحُ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ فَيُكْتَبُ لَهُ أَلْفُ حَسَنَةٍ أَوْ يُحَطُّ عَنْهُ أَلْفُ خَطِيئَةٍ

د سعد ابن ابی وقاص نه روايت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو حضرت ﷺ اوفرمائيل پتاسو کښې څوك عاجز شته د زرو نيکو په هره ورځ کښې د کولو نه د حضرت ﷺ په خوا کښې ناستو کسانو کښې يو سړی تپوس اوکړو څنګه به په مونږ کښې څوك زر نيکئ کوی. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه سل خله سُبْحٰنَ الله اووائی نو زر نيکئ د هغۀ دپاره اوليکلے شی او زر ګناهونه ئے (د عمل نامے نه) وران کړے شی.

بَابُ فَضْلِ الاِجْتِمَاعِ عَلَى تِلاَوَةِ الْقُرْآنِ

باب : د قرانٓ د تلاوت او د ذکر دپاره د جمع کيدلو فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاللهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ وَمَنْ سَلَكَ

د ابوهريره نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی څوك چه د يو مؤمن نه ددنيا يوه سختی لرے کړی نو الله تعالی به د هغۀ نه د اخرت په سختو کښې يوه سختی لرے کړی. او څوك چه مفلس ته مهلت ورکړی (يعنی د قرضے غوښتلو په موقع ورته نيته زياته کړی) الله تعالی به په هغۀ باندے په دنيا او اخرت کښې آسانی اوکړی. او څوك چه د يو مسلمان عيب پټ کړی په دنيا کښې نو الله تعالی به د هغۀ د عيب په دنيا او آخرت کښې پرده اوساتی. او الله تعالی د بنده مدد کوی د کومے پورے چه هغه د خپل رور مدد

طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ

کوی. او څوك چه د علم حاصلولو دپاره لاز وهی (یعنی د دینی علم خاص د الله د رضا دپاره) نو الله به د هغهٔ دپاره د جنت لاره آسانه کړی. او څوك چه راجمع شی د الله په کور کښی د الله کتاب لولی او یو بل ته ئے لولوی. نو په هغوی د الله رحمت نازلیږی او رحمت هغوی لره پټ کړی او فرښتے د هغوی نه چاپیره شی او الله تعالی د هغه خلقو ذکر کوی د خپلے خوا په اوسیدونکو کښی (یعنی فرښتو کښی) او څوك چه د عمل کمے کوی په دے کښی نو د هغهٔ نسب والا د هغهٔ څهٔ په کار نهٔ راځی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ صَحِبَ رَسُولَ اللهِ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ غَيْرَ أَنَّ حَدِيثَ أَبِي أُسَامَةَ لَيْسَ فِيهِ ذِكْرُ التَّيْسِيرِ عَلَى الْمُعْسِرِ

د ابوهریرة نه روایت دے رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے څنګه چه د معاویه حدیث دے. مګر د ابواسامه (راوی) په حدیث کښی غریب ته مهلت د ورکولو ذکر نشته.

عَنِ الْأَغَرِّ أَبِي مُسْلِمٍ أَنَّهُ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُمَا شَهِدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَا يَقْعُدُ قَوْمٌ يَذْكُرُونَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ

د ابو مسلم نه روایت دے هغوی وائی زهٔ ګواهی ورکوم چه ابوهریرة او ابوسعید خدری باندے او هغوی دواړه ګواهی ورکوی په رسول الله ﷺ باندے هغوی فرمائیلی دی کوم خلق چه په ناستے سره الله جل شانه یادوی نو فرښتے د هغوی نه ګیره واچوی او رحمت پرے خور کړی او سکینه (د زړهٔ اطمینان او خوشحالی په هغوی نازلیږی او الله تعالی په فرښتو کښی د هغوی ذکر کوی (یعنی په فخر او رحمت سره)

[1] یعنی د پیغمبرانو او بزرګانو اولاد کیدل څهٔ د فائدے خبره نهٔ ده بلکه عمل ښه کول پکار دی. نووی وائی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه په جماعت کښی د قرآن د لوستلو دپاره جمع کیدل غوره دی. زمونږه او د جمهور علماؤ دغه مذهب دے او مالك دے ته مکروه ونیلی دی او ځنے مالکی مذهب والاد امام مالك د قول تاویل کړے دے.

د اردو کتاب (مترجم وائی امام مالك ته کیدے شی دا حدیث نهٔ وی رسیدلے یا د هغوی مطلب دا وی چه په اوچت آواز سره قرآن لوستل په داسے طریقه چه مونځ ګذارو ته تکلیف وی مکروه دی. او د مسجد حکم دے کچرے په مدرسه یا رباط کښی خلق راجمع شی د قرآن د لوستلو دپاره)

عَنْ شُعْبَةَ فِي هٰذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ مُعَاوِيَةُ عَلَى حَلْقَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ مَا أَجْلَسَكُمْ قَالُوا جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللهَ قَالَ اللهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلاَّ ذَاكَ قَالُوا وَاللهِ مَا أَجْلَسَنَا إِلاَّ ذَاكَ قَالَ أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ وَمَا كَانَ أَحَدٌ بِمَنْزِلَتِي مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَلَّ عَنْهُ حَدِيثًا مِنِّي وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَى حَلْقَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ مَا أَجْلَسَكُمْ قَالُوا جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللهَ وَنَحْمَدُهُ عَلَى مَا هَدَانَا لِلإِسْلاَمِ وَمَنَّ بِهِ عَلَيْنَا قَالَ اللهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلاَّ ذَاكَ قَالُوا وَاللهِ مَا أَجْلَسَنَا إِلاَّ ذَاكَ قَالَ أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ وَلَكِنَّهُ أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَخْبَرَنِي أَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُبَاهِي بِكُمُ الْمَلاَئِكَةَ

د شعبه نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه معاویه رضی الله عنه په جماعت کښې یوه غونډه اولیدله (د خلقو) تپوس ئے اوکړو تاسو ولے دلته ناست یئ. هغوی اووے مونږ ناست یو د الله تعالی د یادولو دپاره. معاویه رضی الله عنه اووے تاسو دد ے دپاره ناست یئ یا د نور څهٔ کار دپاره. هغوی اووے نه په الله قسم دے صرف د الله د یادولو دپاره ناست یو. معاویه اووے ما تاسو له دد ے دپاره قسم نهٔ دے درکړے چه ګنې تاسو دروغ وایئ او څما چه کومه رتبه وه د رسول الله ﷺ په خوا کښې د هغه رتبے په خلقو کښې څما نه د حدیثو کم روایت کونکے نشته دے (یعنی زهٔ د ټولو خلقو نه کم حدیث روایت کوم) یو ځل رسول الله ﷺ د خپلو صحابؤ په حلقه باندے رااووتو او تپوس ئے اوکړو تاسو ولے ناست یئ. هغوی اووے مونږ ناست یو الله یادوو او د هغهٔ تعریف او شکر کوو چه هغه مونږ ته د اسلام لاره اوښوده او په مونږ ئے احسان اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل په الله قسم دے تاسو دد ے دپاره ناست یئ یا د بل څهٔ دپاره. هغوی اووے په الله قسم دے مونږ صرف دد ے دپاره ناست یو حضرت ﷺ اوفرمائیل ما تاسو له دد ے دپاره قسم نهٔ دے درکړے چه ګنې تاسو دروغ وایئ بلکه څما خواله جبرائیل علیه السلام راغے او بیان ئے اوکړو چه الله تعالی ستاسو خلقو فضیلت بیانوی د فرښتو په مخکښې[1].

---

[1] خوش قسمته هغه خلق دی چه مالك د هغوی یاد کوی او ښهٔ والے ئے بیانوی. د غلام دپاره به دد ے نه لوئے نعمت بل څهٔ وی چه مالك د هغوی نه خوشحاله وی او صفت ئے کوی. یا الله په خپل فضل او کرم سره مونږ اوبخښے اګر چه مونږ ګنهګار یو که ښه یو او که بد خو ستا بندیګان او غلامان یو ستا نه سوا نهٔ د بل چا عبادت کوو نهٔ د چا نه مدد غواړو او نهٔ چا ته د مصیبت په وخت آواز کوو. نهٔ چا لره هر ځائے او هر وخت حاضر ناظر ګڼړو. خاص تهٔ رزق ورکونکے اولاد ورکونکے او د بیمارئ نه صحت ورکونکے او د درد او مصیبت لرے کولو والا ئے زمونږ مونځ او روژه ، صدقه او دُعا او ټول عبادتونه ستا دپاره او ستا نه دی. سوا ستا نه نهٔ د چا نه دُعا غواړو او نهٔ په ناسته ولاړه کښې

بَابُ اسْتِحْبَابِ الإِسْتِغْفَارِ وَالإِسْتِكْثَارِ مِنْهُ

عَنِ الأَغَرِّ الْمُزَنِيِّ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ

باب : د خدائے د مغفرت غوښتلو او د ډیرو غوښتلو فضیلت

د اغر مزنیؓ نه روایت دے چه هغه صحابی دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بیشکه پریشانی راځی په زړۀ خما باندے (یعنی د الله ﷻ نه کله غافل شم) او زۀ د الله ﷻ نه سل ځله هره ورځ مغفرت غوارمه[1].

بَابُ التَّوْبَةِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللهِ فَإِنِّي أَتُوبُ فِي الْيَوْمِ إِلَيْهِ مِائَةَ مَرَّةٍ

باب : د توبے بیان

د ابن عمرؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی اے خلقو توبه اوباسئ الله ته ځکه چه زۀ توبه اوباسم الله ته هره ورځ سل ځله[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك

ستا نه علاوه د بل چا نوم اخلو. اے مالك شهنشاه په خپلو خطا کونکو غلامانو رحم اوکړه. ستا د بنو غلامانو سره ښه عملونه هم دی. او زمونږ سره خو یو عمل داسے نشته چه هغه ستا په لوئے دربار کښ پیش کړو. مونږ خالی لاس یو. گناهونو وهلی په خطایانو کښ اخته او د تقصیراتو نه بار شوے بیړه به زمونږ څوك سوا ستا نه پورے باسی. او زمونږ لاس نیونکے او سنبهالونکے سوا ستا نه بل څوك دے؟ کۀ ته په مونږه رحم اوکړے نو زمونږ ځائے د اوسیدو به اولگی گنی زمونږ په اعمالو تۀ ښه خبر ئے چه زمونږ سره د عاجزئ او شرمندگئ نه علاوه نور څۀ نشته دی او نۀ ستا نه سوا زمونږ بله اسره شته دے خو بس تۀ رحم کونکے او مالك ئے

[1] نوویؒ وائی د حضرت شان دا وو چه هر وخت به د الله په یادو کښ وو او په دے کښ چه به هر کله غفلت راغے نو حضرت ﷺ به دے لره گناه اوگنړله او ددے نه به ئے استغفار کولو. او څنے وائی چه حضرت ﷺ به د امت په فکر کښ مصروف شو یا د جهاد په فکر او سامان کښ یا د دشمن سره د میلاویدو په تدبیرونو کښ. اگر چه دا هم لوئے عبادتونه دی خو د حضرت ﷺ په اوچته مرتبه کښ دا نزول دے چه حضرت ﷺ به استغفار کولو او هم په دے واسطه ورته حَسَنَاتُ الْأَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِيْنَ وئیلے شوی دی. او څنو وئیلی دی د هغه پردے نه سکینه مراد ده او استغفار د بندگئ د اظهار دپاره دے. محاسبی وئیلی دی د انبیاؤ او ملائکو یره د عظمتِ الٰهی نه ده. اگر چه هغوی د عذاب نه بے یرے دی. انتهی مختصراً

[2] نوویؒ وائی پورته د حضرت ﷺ د استغفار وجه تیره شوه. او هم دغه د توبے وجه ده. مونږ خلقو ته د توبے زیات احتیاج دے. زمونږ ملگری وائی چه د توبے درے شرطونه دی. یو خو دا چه د گناه نه قلار شی دویم دا چه په گناه ستومانه شی. دریم وعده اوکړی چه بیا به ئے نۀ کوم او کومه گناه چه د بندیگانو د حق وی نو یو شرط بل دے چه هغه بنده ته خپل حق ورکړی یا د هغۀ نه معافی اوغواړی. انتهی

اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا تَابَ اللهُ عَلَيْهِ

چه توبه اوباسی مخکښې د دے نه چه نمر د مغرب نه راوخيژی نو الله ﷻ به هغهٔ لره معاف کړی (روستو د نمر د راختو نه د مغرب د طرف نه توبه نهٔ قبليږی دغه شان د نزع يعنی ساه ختلو په وخت توبه نهٔ قبليږی نهٔ د هغهٔ وصيت جاری کيږی)

بَابُ اسْتِحْبَابِ خَفْضِ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ

باب: په رو ذکر کول افضل دی

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَجْهَرُونَ بِالتَّكْبِيرِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِنَّكُمْ لَيْسَ تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا إِنَّكُمْ تَدْعُونَ سَمِيعًا قَرِيبًا وَهُوَ مَعَكُمْ قَالَ وَأَنَا خَلْفَهُ وَأَنَا أَقُولُ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ فَقُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ قُلْ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ

د ابوموسیٰ رضی الله عنه نه روايت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو په يو سفر کښې چه خلقو په زوره تکبير وئيل شروع کړل. حضرت ﷺ اوفرمائيل اے خلقو نرمی کوئ په خپلو ځانونو باندے (يعنی رو رو ذکر کوئ) ولے چه چا کونړ يا غائب ته آواز نهٔ کوئ؟ تاسو آواز کوئ هغه ذات ته چه هغه (د هر ځائے نه) اوری نږدے دے او ستاسو سره دے (يعنی په علم او احاطه سره نووی) ابوموسیٰ رضی الله عنه وائی زهٔ حضرت ﷺ پسے وم. او ما لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ وئيلو حضرت ﷺ اوفرمائيل اے عبد الله بن قيس زهٔ تا ته د جنت د خزانو نه يوه خزانه اوښايم. ما عرض اوکړو اوښايه يا رسول الله ﷺ حضرت ﷺ اوفرمائيل وايه چه لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ (دا کلمه د تفويض ده او په دے کښې اقرار دے چه بل هيچا لره نهٔ طاقت شته نهٔ قدرت د دے وجې نه الله تعالیٰ ته ډيره غوره ده)

عَنْ عَاصِمٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د عاصم نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّهُمْ كَانُوا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَهُمْ يَصْعَدُونَ فِي ثَنِيَّةٍ قَالَ فَجَعَلَ رَجُلٌ كُلَّمَا عَلَا ثَنِيَّةً نَادَى لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ قَالَ فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ لَا تُنَادُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا قَالَ فَقَالَ يَا

د ابوموسیٰ رضی الله عنه نه روايت دے وائی چه دے په خلقو کښې وو د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کښې په يو کنډو باندے ورختو. يو سړے چه به هر کله په لوړ ځائے ورختو نو په زوره به لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وئيلو. حضرت ﷺ اوفرمائيل تهٔ کونړ يا غائب ته خو چغے نهٔ وهے (يعنی په رو آواز سره کلمه وايه) بيائے اوفرمائيل اے ابوموسیٰ يا اے عبد

أَبَا مُوسَى أَوْيَا عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ قُلْتُ مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ

الله بن قيس زهٔ تاته يو كلمه ښايم چه هغه د جنت خزانه ده ما عرض اوكړو هغه كومه كلمه ده يا رسول اللهﷺ حضرتﷺ اوفرمائيل لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ

د ابوموسیٰؓ نه روايت دے چه مونږ د رسول اللهﷺ سره وو. بيا (مخكښې) د پورتنی حديث پشان ذكر كړو.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ عَاصِمٍ

د ابوموسیٰؓ نه روايت دے چه مونږ د رسول اللهﷺ سره وو په يو سفر كښې بيا (مخكښې) د عاصم د حديث پشان ذكر كړو.

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ وَقَالَ فِيهِ وَالَّذِي تَدْعُونَهُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَةِ أَحَدِكُمْ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِ ذِكْرُ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ

د ابوموسیٰؓ نه روايت دے چه مونږ يو سحر د رسول اللهﷺ سره وو (بيا مخكښې) حديث بيان كړو. او په دے كښې اووئيل چه حضرتﷺ اوفرمائيل چه چا ته تاسو آواز كوئ هغه تاسو ته زيات نژدے دے ستا د اوښ د څټ نه او په دے كښې د لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ذكر نشته دے[1].

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ أَوْ قَالَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ فَقُلْتُ بَلَى فَقَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ

د ابوموسیٰ اشعریؓ نه روايت دے وائی چه رسول اللهﷺ ما ته اوفرمائيل آيا زهٔ تاته اوښايم يوه كلمه د جنت د خزانو نه يا يوه خزانه د جنت د خزانو نه ما عرض اوكړو اوښايئ. حضرتﷺ اوفرمائيل لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ

بَابُ الدَّعَوَاتِ وَالتَّعَوُّذِ

باب: د دُعاګانو او د تعوذ بيان

عَنْ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي

د ابوبكرؓ نه روايت دے چه هغوی رسول اللهﷺ ته عرض اوكړو چه يا رسول اللهﷺ ما ته يوه دُعا اوښايئ چه هغه زهٔ پخپل مانځهٔ كښې

---

[1] نوویؒ وائی دا مجاز دے لكه چه الله تعالی فرمائیلی دی او مراد داد ے چه هغه آوری.

د اردو كتاب مترجم وائی چه په دے قسم آياتونو او احاديثو چه په هغے كښې د خداوند تعالی د مدد او د نژديكت ذكر دے په اتفاق د سلفو او د خلفو په معيت او په قرب علمی باندے محمول دی. بيا هغه د جهميو دليل څنګه كيدے شی چه معاذا الله خداوند كريم لره هر ځائے په ذات سره موجود كيدل ګڼړی د اهل سنتو عقيده دا ده چه د خداوند كريم ذات مقدس د عرش د پاسه دے او د هغهٔ علم او سمع او بصر د هر يو څيز سره متعلق دے. هغه هر ځائے حاضر دے په حضور د علم او ناظر دے په نظر د علم

صَلَاتِي قَالَ قُلْ اَللّٰهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَبِيرًا وَقَالَ قُتَيْبَةُ كَثِيرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ

وایم حضرت ﷺ اوفرمائیل دا وایه چه یا الله ما پخپل نفس باندے لوئے ظلم کړے دے یا ډیر ظلم کړے دے. او ګناهونه هیڅوک نه شی بخښلے سوا ستا نه ته اوبخښے ماله د خپل طرفنه په بخښنے سره. او رحم اوکړه په ما باندے بیشکه ته بخښونکے او مهربانه ئے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ يَقُولُ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ عَلِّمْنِي يَا رَسُولَ اللهِ دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي وَفِي بَيْتِي ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ اللَّيْثِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ ظُلْمًا كَثِيرًا

د عبد الله بن عمرو بن العاص رض نه روایت دے چه ابوبکر صدیق رض رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه ما ته داسے دُعا اوښایئ چه هغه زۀ په خپل مانځۀ او کور کښې لولم. بیا د لیث د حدیث پشان ئے ذکر کړو. مګر په دے کښې دی ظُلْمًا كَثِيرًا

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُو بِهٰؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ اللّٰهُمَّ فَإِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ اَللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اَللّٰهُمَّ فَإِنِّي

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به دا دُعا کوله اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ د آخره پورے. یعنی یا الله زۀ پتا سره پناه غواړم د جهنم د فتنے او عذاب نه او د قبر د فتنے او د قبر د عذاب نه او د مالدارئ د فتنے نه او د فقیرئ د فتنے د بدوالی نه او پناه غواړم پتا سره د دجّال مسیح د فتنے نه او د شر نه یا الله خما ګناهونه اووینځے په واوره او په یخو اوبو سره. او پاک کړه خما زړۀ د ګناهونو نه لکه څنګه چه تا پاکه کړے ده سپینه کپړه د خیری وغیره نه اولرے کړے خما ګناهونو لره خما نه لکه څنګه چه تا لرے کړے دے مشرق لره د مغرب نه یا الله پناه غواړم په تا سره د سُستئ او بوډاوالی او د ګناه او قرضدارئ نه[1].

[1] یا الله پناه غواړم په تا سره د مالدارئ د فتنے نه او د فقیرئ د فتنے نه. د امیرئ فتنه داده چه په مال دولت کښې مشغول شی او الله تعالی ئے هیر شی او د مال حق نۀ ادا کوی. او د فقیرئ فتنه داده چه تنګ او ناشکری شروع کړی یا الله پناه غواړم پتا سره د سستئ او بوډاوالی او ګناه او د قرضدارئ نه. ولے چه بنده په قرضدارئ کښې د دروغو وعده کوی او کله د ادا کولو نه مخکښې مړ شی. او کله قرض خواه ته دهوکه ورکوی. نووی وائی دد ے حدیثونو نه دا معلومه شوه چه دُعا کول او پناه غوښتل مستحب دی او دغه صحیح دی او د زهاد د یو طائفے دا قول دے چه دُعا کول افضل دی او په قضائے الهٰی (یعنی تقدیر) باندے راضی کیدل غوره دی.
د اردو کتاب مترجم وائی دا قول غلط دے پخپله په قرآن شریف کښې دی چه اُدْعُوْنِیْٓ اَسْتَجِبْ لَکُمْ او په سوو نو حدیث د دُعا په باره کښې راغلی دی. او تولو پیغمبرانو دُعا کړے ده. بلکه د ډیرو حدیثونو وتلے ده چه دُعا قضاء لره بدلوی. او د زهاد دے طائفے په

أَعُوذُبِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ

د هشام نه په دے اسناد سره روايت دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْهَرَمِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ

د انس بن مالك نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ به فرمائيل چه يا الله زهٔ پتا سره پناه غواړم د عاجزئ او سستئ او نامردئ او د بوډا والي نه (د هغه بوډاوالي نه چه په هغے سره عقل هوش لږ شي او عبادت نهٔ شي كيدے) او د بخيلئ نه او پناه غواړم پتا سره د قبر د عذاب او ژوند او مرګ د فتنے نه

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ تَعَوَّذَ مِنْ أَشْيَاءَ ذَكَرَهَا وَالْبُخْلِ

د انس بن مالك نه روايت دے. رسول الله ﷺ د څو څيزونو نه د الله تعالى پناه اوغوښتله او خاص كر د بخيلئ نه

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو بِهٰؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَالْكَسَلِ وَأَرْذَلِ الْعُمُرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَفِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به دا دُعاګانے فرمائيلے. يا الله زهٔ ستا پناه غواړم د بخل نه او د سُستئ نه او د رزيل عمر نه او د قبر د عذاب نه او د ژوند او د مرګ د فتنے نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَعَوَّذُ مِنْ سُوءِ الْقَضَاءِ وَمِنْ دَرَكِ الشَّقَاءِ وَمِنْ شَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ وَمِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ قَالَ عَمْرٌو فِي حَدِيثِهِ قَالَ سُفْيَانُ أَشُكُّ أَنِّي زِدْتُ وَاحِدَةً مِنْهَا

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به د بدے قضاء نه پناه غوښتله او په بدبختئ كښ د اخته كيدو نه او د دشمنانو د خوشحاليدو نه او د بلا د سختئ نه عمرو (راوي) په خپل حديث كښ وئيلي دي چه سفيان وئيلي دي چه خما شك دے چه شايد ما د يو جملے په دے كښ اضافه كړے ده.

عَنْ خَوْلَةَ بِنْتَ حَكِيمٍ السُّلَمِيَّةَ تَقُولُ

د خوله بنت حكيم سلميه نه روايت دے وائي چه ما د رسول الله ﷺ

دے بندے غور نه دے کړے چه په قضا د الله سره راضي کيدل د دُعا مانع نه دی خکه چه د رضا دامعنی ده چه څهٔ الله کريم اوکړی او په هغے باندے څهٔ شکوه او شکايت او نه کړی او څهٔ لفظ خلاف ادب د خُلے نه او نهٔ باسی. او دُعا مقتضاء د عبوديت ده او په دُعا سره د بنده او مولی په مينځ کښ تعلق زياتيږی او مولی د خپل غلام په منت زارئ سره ډير خوشحاليږی. بلکه زهٔ يريږم چه په دُعا نهٔ کولو سره مولی ناراضه نهٔ شی. خکه چه دُعا نهٔ کول او څهٔ نهٔ غوښتل د تکبر او غرور نخښه ده. او دُعا عامه ده په زړهٔ سره يا په ژبه سره ولے چه مالك د زړهٔ په خبرو هم ښهٔ پوهيږی

سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول من نزل منزلا ثم قال أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق لم يضره شيء حتى يرتحل من منزله ذلك

نه اوريدلي دي چه فرمائيلې دي څوک چه په يو منزل کښې کوز شي او بيا اووائي پناه غوارم زۀ د الله په پوره کلمو سره د بدوالې نه د هغه څۀ چه الله پيدا کړي دي نو دۀ ته به هيڅ څيز نقصان نۀ رسوي ترد ے پورے چه هغه سفر اوکړي د هغه منزل نه

عن خولة بنت حكيم السلمية أنها سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول إذا نزل أحدكم منزلا فليقل أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق فإنه لا يضره شيء حتى يرتحل منه

د خوله بنت حکيم سلميه نه روايت دے چه ما اوريدلي دي رسول الله ﷺ فرمائيل هر کله په تاسو کښې څوک په يو منزل کښې کوز شي نو هغۀ ته دا وئيل پکار دي زۀ پناه غوارم د الله د پوره کلمو د لويئ سره د هغه کوم چه الله پيدا کړي دي نو دۀ ته به څۀ څيز نقصان نۀ رسوي ترد ے پورے چه هغه سفر اوکړي د هغه منزل نه

عن أبي هريرة أنه قال جاء رجل إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال يا رسول الله ما لقيت من عقرب لدغتني البارحة قال أما لو قلت حين أمسيت أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق لم تضرك

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه يو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو يا رسول الله! ما ته ډير تکليف رااورسيدو د هغه لړم نه کوم چه پرون د شپے زۀ چيچلے وم. حضرت ﷺ اوفرمائيل کچرے تا ماښام دا وئيلے وے أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق نو تا ته به ضرر نۀ وو رسيدلے (نۀ به ئے وے چيچلے نو تکليف به نۀ وو)

عن أبي هريرة يقول قال رجل يا رسول الله لدغتني عقرب بمثل حديث ابن وهب

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه يو سړي رسول الله ﷺ ته اووے چه زۀ لړم اوچيچلم څنګه چه د ابن وهب په حديث کښې دي.

باب الدعاء عند النوم

باب. د اوده کيدو په وخت دعا

عن البراء بن عازب أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إذا أخذت مضجعك فتوضأ وضوءك للصلاة ثم اضطجع على شقك الأيمن ثم قل اللهم إني أسلمت وجهي إليك وفوضت أمري إليك

د براء ابن عازبؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر کله چه تۀ اوده کيږے نو اودس کوه. لکه څنګه چه د مانځۀ دپاره اودس کوے بيا په ښي ډډه باندے څمله او دا وايه اللهم إني د آخره پورے يعني يا الله ما خپل مخ کينبودے دے ستا دپاره او خپل کار مے په تا باندے اوسپارلو او په تا مے بهروسه اوکړه ستا د

وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ وَاجْعَلْهُنَّ مِنْ آخِرِ كَلَامِكَ فَإِنْ مُتَّ مِنْ لَيْلَتِكَ مُتَّ وَأَنْتَ عَلَى الْفِطْرَةِ قَالَ فَرَدَّدْتُهُنَّ لِأَسْتَذْكِرَهُنَّ فَقُلْتُ آمَنْتُ بِرَسُولِكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ قَالَ قُلْ آمَنْتُ بِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ

ثواب په خواهش سره. ستا د عذاب د ډيرے نه سوا ستا نه مے بل د اوسيدو ځائے او پناه نشته ستا نه. ايمان مے راوړے دے ستا په کتاب باندے هغه چه تا نازل کړے دے او په پيغمبرؑ ستا باندے هغه چه تا راليږلے دے. او آخری خبره دِ ستا دا دُعا وی. پس کچرے ته مړ شے په دغه شپه نو مرے به په اسلام باندے (او خاتمه به دِ په خير وی) براء وائی ماد ے کلمو لره دوباره اولوستلے د يادلو دپاره نو د نَبِيِّكَ په ځائے ما بِرَسُوْلِكَ اووے. حضرت ﷺ راته اوفرمائيل چه بِنَبِيِّكَ وايه[1]

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ غَيْرَ أَنَّ مَنْصُورًا أَتَمُّ حَدِيثًا وَزَادَ فِي حَدِيثِ حُصَيْنٍ وَإِنْ أَصْبَحَ أَصَابَ خَيْرًا

براء بن عازبؓ د نبی ﷺ نه دا حديث روايت کړے دے. مګر دے حديث لره منصور (راوی) زيات مکمل بيان کړے دے. او د حصين (راوی) په حديث کښې دا زياته ده. او کچرے هغهٔ صبا کړو نو نيکی به مومی.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ رَجُلًا إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ أَنْ يَقُولَ اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِرَسُولِكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ فَإِنْ مَاتَ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ بَشَّارٍ فِي حَدِيثِهِ مِنَ اللَّيْلِ

د براء بن عازبؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ حکم اوفرمائيلو يو سړی ته چه کله هغه اوده کيدو نو وايه اَللّٰهُمَّ اَسْلَمْتُ الخ يعنی اے الله ما خپل ځان ستا په حواله کړو. او ما خپل مخ ستا طرف ته کړو او ما تا لره خپل پُشت پناه جوړ کړو او ما خپل کار تا ته اوسپارهٔ. هم ستا رغبت او ستا يره ده. ستا نه سوا زمونږ د پناه ځائے او مقام نشته ستا په نازل کړی شوی کتاب مو ايمان راوړو او ستا په راليږلے شوی پيغمبرؑ باندے هم پس کچرے هغه مړ شو نو هغه به په اسلام باندے. او ابن بشار (راوی) په خپل حديث کښې د " هغه شپے لره" ذکر نهٔ دے کړے.

[1] خنګه په ذکر او دُعا کښې دغه لفظ ونيل پکار دی کوم چه وارِد دے. او کيدے شی دا دُعا حضرت ﷺ ته په وحی سره معلومه شوی وی خکه حضرت ﷺ نے لفظ بدلول جائز نهٔ کړلو او خنو ددے روايت نه دا دليل کړے دے چه د حديث روايت بالمعنی صحيح نهٔ دے خوک چه ورته صحيح وائی هغه دا جواب ورکوی چه د رسول معنی بله ده نو دا نقل بالمعنی چرته ده (نووی مختصراً)

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ يَا فُلَانُ إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ بِمِثْلِ حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ فَإِنْ مُتَّ مِنْ لَيْلَتِكَ مُتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ وَإِنْ أَصْبَحْتَ أَصَبْتَ خَيْرًا

د براء بن عازب رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو سړی ته اوفرمائیل. اے فلانی هر کله چه ته خپلے بسترے ته ورشے نو دا دُعا وایه کومه چه پورته ذکر شوه. په دے کښې دادی کچرے ته مړ شے نو په اسلام به مړ شے. او سحر پاڅیدے نو په نیکئ به پاڅے.

عَنِ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ يَقُولُ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ وَإِنْ أَصْبَحْتَ أَصَبْتَ خَيْرًا

د براء بن عازب رضي الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ حکم اوفرمائیلو یو سړی ته څنګه چه پورته تیر شو. او په دے حدیث کښې دا ذکر کړے شوے نه دی کچرے ته سحر پاڅیدے نو په نیکئ به پاڅے.

عَنِ الْبَرَاءِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ قَالَ اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَحْيَا وَبِاسْمِكَ أَمُوتُ وَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ

د براء رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه به هر کله څملاستو نو فرمائیل به ئے اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ د آخره پورے یعني یا الله زهٔ ستا د نوم سره ژوندے کیږم او ستا د نوم سره مړ کیږم. او هر کله چه به ویښ شو نو فرمائیل به ئے اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ د آخره پورے یعني شکر د هغه الله دے چا چه مونږه مړهٔ شوی ژوندی کړو (اودهٔ شوی څکه چه اوده کیدل هم یو قسم له مرګ دے) او هم د هغهٔ په طرف د مګر نه پس پاسیدل دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ أَمَرَ رَجُلًا إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ قَالَ اللَّهُمَّ خَلَقْتَ نَفْسِي وَأَنْتَ تَوَفَّاهَا لَكَ مَمَاتُهَا وَمَحْيَاهَا إِنْ أَحْيَيْتَهَا فَاحْفَظْهَا وَإِنْ أَمَتَّهَا فَاغْفِرْ لَهَا اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ أَسَمِعْتَ هَذَا مِنْ عُمَرَ فَقَالَ مِنْ خَيْرٍ مِنْ عُمَرَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْنُ نَافِعٍ فِي رِوَايَتِهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ

د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دے چه هغه یو سړی ته حکم اوکړو په هغه وخت کښې چه هغه اوده کیدهٔ ددے ونیلو چه اَللّٰهُمَّ خَلَقْتَ نَفْسِیْ د آخره پورے (یعني یا الله تا زهٔ پیدا کړے یم او تهٔ به مے وژنے. او تهٔ مړهٔ کول او ژوندی کول کوے. او کچرے ته ژوندے ساتے هغه لره نو په خپل حفاظت کښې ئے اولره. او کچرے تهٔ وژنے هغهٔ لره نو مغفرت ئے نصیب کړه. یا الله زهٔ ستا نه تندرستی غواړمه یو سړی هغوی ته اووے آیا تا دا دُعا د عمر رضي الله عنه نه اوریدلی ده؟ هغوی اووے ما د هغه چا نه اوریدلی ده چه د عمر رضي الله عنه نه بهتر وو یعني

وَلَمْ يَذْكُرْ سَمِعْتُ

عَنْ سُهَيْلٍ قَالَ كَانَ أَبُو صَالِحٍ يَأْمُرُنَا إِذَا أَرَادَ أَحَدُنَا أَنْ يَنَامَ أَنْ يَضْطَجِعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ وَرَبَّ الْأَرْضِ وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْفُرْقَانِ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ اللَّهُمَّ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ وَأَغْنِنَا مِنَ الْفَقْرِ وَكَانَ يَرْوِي ذَلِكَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د رسول الله ﷺ نه

د سهیل نه روایت دے وائی چه ابوصالح به حکم کوؤ مونږ ته هر کله چه به یو کس په مونږ کښې د اوده کیدو اراده اوکړله چه په ښیٔ ډډه باندے پریوځئ او دا دُعا لولئ: اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوٰتِ د آخره پورے. یعنی اے الله د زمکے آسمان مالکه او د لوئے عرش پالونکیه اے زمونږه او د هر څیز پالونکیه اے چونکیه د دانے او بمبتے (د اونو راتوکولو دپاره) اے نازلونکیه د تورات انجیل او فرقان یعنی قرآن. پناه غوارم پتا سره د هر یو څیز د شر نه چه د هغے تندی لره ته نیونکے ئے (یعنی ستا په اختیار کښې دے) پس ته د هر څه نه اول ئے نشته دے ستا نه مخکښې هیڅ څیز. او ته د ټولو نه آخر ئے نشته دے ستا نه روستو هیڅ څیز (یعنی ازلی او ابدی ئے) ته ظاهر ئے ستا دپاسه څُڅشے نشته ته باطن ئے (یعنی د خلقو د نظر نه پټ شوے) او ستا نه پټ څهٔ شے نشته (یعنی ستا نه زیات پټ شوے) ادا کړه قرض زمونږ او امیر کړه مونږ لره او محتاجی لرے کړه زمونږ نه ابو صالح به دا دُعا د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت کوله او ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوله[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا إِذَا أَخَذْنَا مَضْجَعَنَا

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ ته به ئے حکم فرمائیلو چه هر کله مونږ خپلو بسترو ته خو نو وایئ کوم (پورته) چه

[1] نووی وائی په دے حدیث کښې د الله جل شانه دپاره د آخر لفظ راغلے دے امام ابوبکر باقلانی وائی. د آخر معنی ده باقی پخپل صفات سره د علم او قدرت وغیره. لکه څنګه چه په ازل کښې وو او روستو د مخلوق د مرکیدو نه او د هغوی علوم او حواسو د ختمیدو) او د هغوی د اجسامو د جدا کیدو نه پس به پروردګار هم په دغه حالت دی. او معتزلو دے نه دا دلیل نیولے دے. چه جسم به بالکل فناه شی او د اهل حقو مذهب دا دے چه جسم به بالکل فنا نهٔ وی بلکه هغه به جدا جدا شی. او دلته مراد د هغوی د صفاتو فناده.

د اردو کتاب مترجم وائی چه د معتزلو عقل د دلیل عقلی د مخه هم مردود دے څکه چه د حکمت جدید او قدیم د دواړو په اتفاق سره دا خبره ثابته ده چه جواهر نهٔ شی فنا کیدے. په دے صورت کښې د فناه نهٔ دغه انحلال او بطلان د ترکیب او انعدام د صفاتو مراد دے چه د اهل حقو دغه مذهب دے.

أن نقول بِمثلِ حدِيثِ جرِيرٍ وقَالَ مِن شرِ كُلِ دابةٍ أنت آخِذٌ بِنَاصِيتِهَا

د جریر په حدیث کښې تیر شو او په دې کښې دادي چه پناه غواړم زهٔ ستا د هر ځناور د شر نه چه د هغهٔ تندے تا نیولے دے.

عَنْ أبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أتَتْ فَاطِمَةُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ خَادِمًا فَقَالَ لَهَا قُولِي اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ بِمِثْلِ حدِيثِ سُهَيْلٍ عَنْ أَبِيهِ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی وائی چه حضرت فاطمة زهرهؓ د رسول اللهﷺ خواله راغله د یو ے خدمتګار د غوښتلو دپاره. حضرتﷺ ورته اوفرمائیل دا دُعا لوله اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ د آخره پورے لکه چه پورته ذکر شوه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَوَى أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ فَلْيَأْخُذْ دَاخِلَةَ إِزَارِهِ فَلْيَنْفُضْ بِهَا فِرَاشَهُ وَلْيُسَمِّ اللهَ فَإِنَّهُ لَا يَعْلَمُ مَا خَلَفَهُ بَعْدَهُ عَلَى فِرَاشِهِ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَضْطَجِعَ فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ وَلْيَقُلْ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبِّي بِكَ وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَاغْفِرْ لَهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه یو کس خپلے بسترے له ورشی. نو د خپل تهبند تکړه دِ اونیسی او بسم الله دِ اووائی او په هغے سره دِ خپله بستره صفا کړی ځکه چه دے نهٔ دے خبر چه دده د پاسیدو نه پس دده بسترے ته څهٔ څیز راغلے دے. یا چه هر کله اوده کیږی نو په ښیٔ ړخ ده د څملی اووائی د سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبِّي بِكَ وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَاغْفِرْ لَهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ یعنی پاکی ده تالره اے ځما ربه ستا په نوم سره زهٔ په زمکه باندے ړخ ده اړدم. او ستا په نوم سره ئے اوچتوم کچرے تا ځما روح قبض که (ختاته) نو اوبخښنه هغے لره. او کچرے پریږدے ئے (بیا بدن ته د راتلو دپاره) نو د هغے حفاظت کوه په څهٔ سره چه ته حفاظت کوے د خپلو نیکو بندیګانو.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ ثُمَّ لْيَقُلْ بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي فَإِنْ أَحْيَيْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا

د عبید الله بن عمرؓ نه په دے اسناد سره روایت دے په دی کښې دی ثُمَّ لْيَقُلْ الخ یعنی بیا دا وایه اے پروردګاره! ستا په نوم سره مے ړخ ده اولګوله کچرے ته ځما روح ژوندے ساتے نو په هغهٔ رحم اوفرمایه

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ قَالَ الْحَمْدُ

د انسؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ به کله خپلے بسترے له لاړو نو اوبه ئے فرمائیل شکر دے د هغه الله چه په مونږ ئے اوخوړله او څښوله

لِلّٰهِ الَّذِیْ أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهُ وَلَا مُؤْوِيَ

او زموږ د پاره كافي شو او ځائے ئې راكړو موږ ته ډير خلق داسے دي چه د هغوي د پاره نه څوك كافي دي او نه ئې څه ځائے شته

بَابٌ فِي الْأَدْعِيَةِ

باب : د دُعاګانو بيان

عَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَمَّا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو بِهِ اللهَ قَالَتْ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ

د فروه بن نوفل اشجعی نه روايت دے وائي چه ما د حضرت عائشے نه تپوس اوكړو چه رسول الله ﷺ به څه دُعا كوله؟ هغوی اووے حضرت ﷺ به فرمائيلو يا الله زهٔ پتا سره پناه غواړم د بدئ نه د هغه كار چه ما كړے دے او د هغه كار چه ما نهٔ دے كړے.

عَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ دُعَاءٍ كَانَ يَدْعُو بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَشَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ

د فروه بن نوفل نه روايت دے چه ما د حضرت عائشے نه تپوس اوكړو د رسول الله ﷺ د دُعا په باره كښې كومه چه حضرت ﷺ به فرمائيله نو حضرت عائشے اووے چه حضرت ﷺ به دا دُعا كوله يا الله! زهٔ ستا پناه غواړم د بدئ د هغه كار كومه چه ما اوكړو او كوم چه ما نهٔ دے كړے.

عَنْ حُصَيْنٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرٍ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ

د حصين نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے. مګر د محمد بن جعفر په حديث كښې دي. او د هغه بدئ نه كومه چه څما نه كيږي آئنده.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي دُعَائِهِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَشَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ

د حضرت عائشے نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به خپلو دُعاګانو كښې فرمائيل. يا الله: زهٔ ستا پناه غواړم د هغه بدئ نه چه ما كړے ده او د هغے نه هم كومه چه ما نهٔ ده كړے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ

د ابن عباس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به فرمائيل اَللّٰهُمَّ لَكَ اَسْلَمْتُ د آخره پورے يعنی اے پروردګاره! زهٔ ستا تابعدار شوم او پتا باندے مے ايمان راوړے دے. او پتا باندے مے اعتماد كړے دے. او ستا طرفته مے رجوع شوه. او ستا په مدد د دشمنانو (د دين) سره جنګيږم. اے مالكه زهٔ ستا په عزت سره پناه غواړم چه نشته دے معبود برحق سوا ستا نه دد ے خبرے نه چه ګمراه شم ته

وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ

همیشه ژوندے ئے تا لره چرته هم مرګ نشته دے او پیریان او بنیادم به مړۀ کیږی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ وَأَسْحَرَ يَقُولُ سَمِعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللهِ وَحُسْنِ بَلَائِهِ عَلَيْنَا رَبَّنَا صَاحِبْنَا وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا عَائِذًا بِاللهِ مِنَ النَّارِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ چه به کله په سفر کښ وو او سحر به شو نو او به ئے فرمائیل واوریدل اوریدونکی د الله حمد او د هغه حسن بلا لره. اے ربه زمونږه ملګرے شے (یعنی په مدد سره) او فضل او کړه په مونږ باندے. پناه غواړم زۀ پتا سره د جهنم نه

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَدْعُو بِهَذَا الدُّعَاءِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي جِدِّي وَهَزْلِي وَخَطَئِي وَعَمْدِي وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

د ابوموسیٰ اشعریؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ به دا دُعا فرمائیله اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ د آخره پورے یعنی یا الله! اوبخښے ما ته ځما غلطی او ځما زیاتے کوم چه ځما نه ځما په باره کښ شوی وی. او اوبخښے هغه څیز کوم چه تۀ ځما نه زیات پیژنے. یا الله اوبخښے ځما هغه ګناهونه کوم چه ځما نه قصداً شوے دي او کوم چه بغیر د ارادے نه شوے دي او ځما هیر غلطی او قصد لره او دا ټول ځما د طرف نه دي اے مالکه ما ته اوبخښے ځما مخکینی او روستنی ګناهونه او کوم چه تۀ ځما نه زیات پیژنے. نو مخکښ کونکے ئے او تۀ روستے کونکے ئے. او په هر څیز قدرت لرونکے ئے[1]

عَنْ شُعْبَةَ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ

د شعبه نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ به دا دُعا فرمائیله چه اللّٰهم اصلح د آخره پورے یعنی یا الله بنائسته کړے ځما دین لره چه

[1] نوویؒ وائی دا دُعا حضرتﷺ د عاجزئ په بنا سره کړیده او د کمال فوت کیدو ته حضرتﷺ ګناه اووے. یا مراد هغه سهوه ده چه کومه د حضرتﷺ نه شوی دی یا د نبوت نه مخکښ چه کوم امرونه واقع شوے وی. په هر حال د هغوی رومبی او روستنی ګناهونه ټول بخښلی شوی دی. او دا دُعا د عاجزئ د وجے نه ده خکه چه دُعا عبادت دے په تحفة الاخیار کښ دی چه حضرتﷺ د ګناه نه معصوم وو لیکن د امت د تعلیم دپاره. یا د ترکِ اولی په خیال سره ئے داسے دُعاګانے کولے. څومره چه نزدیکت زیات وی دومره مینه زیاته وی. مشهور متل دے چه "نزدیکاں را بیش بود حیرانی" دغه معنی د بندګئ ده چه بنده د خپل مالك په مخکښ د هیبت نه رپیږی او د خپل قصور خواه کۀ ترے شوے وی یا نۀ وی اقرار اوکړی.

الَّذِي هُوَ عِصۡمَةُ أَمۡرِي وَأَصۡلِحۡ لِي دُنۡيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي وَأَصۡلِحۡ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي وَاجۡعَلِ الۡحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيۡرٍ وَاجۡعَلِ الۡمَوۡتَ رَاحَةً لِي مِنۡ كُلِّ شَرٍّ

خما د آخرت د کار حافظ او نګهبان دے. او ښائسته کړے خما دنیا لره چه په دے کښې خما رزق او ژوند دے. او ښائسته کړے خما آخرت لره چه هغے ته خما سفر دے. او کړے ژوند خما دپاره په هر غوره والی کښې د زیاتی سبب او کړے مرګ لره خما دپاره د هرے یوے بدئ نه د راحت سبب (دا دُعا د هر مطلب دپاره جامع ده)

عَنۡ عَبۡدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسۡأَلُكَ الۡهُدَى وَالتُّقَى وَالۡعَفَافَ وَالۡغِنَى

د عبد الله بن مسعود ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به فرمائیل چه یا الله زهٔ ستا نه سوال کوم یعنی غواړم هدایت او پرهیزګاری او د حرامو نه پاکوالے او د زړهٔ مالداری.

عَنۡ أَبِي إِسۡحَقَ بِهَذَا الۡإِسۡنَادِ مِثۡلَهُ غَيۡرَ أَنَّ ابۡنَ الۡمُثَنَّى قَالَ فِي رِوَايَتِهِ وَالۡعِفَّةَ

د ابو اسحاق نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے مګر ابن مثنیٰ (راوی) په خپل روایت کښې (د عفاف په ځائے) د عفت لفظ وئیلو.

عَنۡ زَيۡدِ بۡنِ أَرۡقَمَ قَالَ لَا أَقُولُ لَكُمۡ إِلَّا كَمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الۡعَجۡزِ وَالۡكَسَلِ وَالۡجُبۡنِ وَالۡبُخۡلِ وَالۡهَرَمِ وَعَذَابِ الۡقَبۡرِ اللّٰهُمَّ آتِ نَفۡسِي تَقۡوَاهَا وَزَكِّهَا أَنۡتَ خَيۡرُ مَنۡ زَكَّاهَا أَنۡتَ وَلِيُّهَا وَمَوۡلَاهَا اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنۡ عِلۡمٍ لَا يَنۡفَعُ وَمِنۡ قَلۡبٍ لَا يَخۡشَعُ وَمِنۡ نَفۡسٍ لَا تَشۡبَعُ وَمِنۡ دَعۡوَةٍ لَا يُسۡتَجَابُ لَهَا

د زید بن ارقم ؓ نه روایت دے وائی چه نهٔ وایم زهٔ تاسو ته مګر هغه څهٔ چه حضرت ﷺ به فرمائیل. هغوی به فرمائیل چه یا الله زهٔ پناه غواړم پتا سره د سستئ، نامردئ او بخیلئ او بوډاوالی نه او د قبر د عذاب نه یا الله خما نفس له تقوی ورکړے او پاك ئے کړے او ته غوره پاکولو والائے. ته د دے آقا او مولائے. یا الله زهٔ پناه غواړم پتا سره د هغه علم نه چه فائده نهٔ ورکوی او د هغه زړهٔ نه چه ستا نه پکښې یره نهٔ وی. او د هغه نفس نه چه هغه خوشحاله نهٔ وی. او د هغے دُعا نه چه هغه قبوله نهٔ وی.

عَنۡ عَبۡدِ اللهِ بۡنِ مَسۡعُودٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمۡسَى قَالَ أَمۡسَيۡنَا وَأَمۡسَى الۡمُلۡكُ لِلّٰهِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحۡدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ قَالَ الۡحَسَنُ فَحَدَّثَنِي الزُّبَيۡدُ أَنَّهُ حَفِظَ عَنۡ إِبۡرَاهِيمَ فِي

د عبد الله بن مسعود ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ چه به هر کله ماښام شو نو فرمائیل به ئے مونږ ماښام کړو او د الله بادشاهئ او شکر دے الله لره چه نشته دے معبود برحق مګر الله دے چه یو دے شریك نهٔ لری. د هغهٔ باشاهی ده او هم هغه د تعریف لائق دے او هغه په هر څیز

هذا لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللَّهُمَّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ

باندے قادر دے اے پروردګاره! زۀ ستا نه د هغه شپے بهترى غوارم او د هغے شپے نه د روستو وخت او پناه غوارم پتا سره د هغه شپے د بدئ نه او د هغے نه روستو د بدئ نه. اے پروردګاره زۀ پتا سره پناه غوارم د سستئ او بوډاوالى د بدئ نه اے پروردګاره زۀ پتا سره پناه غوارم د جهنم د عذاب نه. او د قبر د عذاب نه.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمْسَى قَالَ أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ قَالَ أُرَاهُ قَالَ فِيهِنَّ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ ذَلِكَ أَيْضًا أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ هر كله به چه ماښام كيدۀ نو فرمائيل. مونږ ماښام كړو او د خدائے بادشاهئ ماښام كړو او ټول صفتونه خاص د الله جل جلاله دپاره دى. د الله نه سوا څوك معبود برحق نشته هغه يواځے دے د هغۀ څوك شريك نشته راوى وئيلى دى چه څما خيال دے حضرت ﷺ اوفرمائيل. د هغۀ دپاره باشاهى ده او د هغۀ دپاره ټول صفتونه دى او هغه په هر يو څيز قادر دے. اے څما پروردګاره! زۀ ستا نه د هغے نيكئ غوښتونكے يم كومه چه په دے شپه كښ ده او كومه چه د دے نه روستو ده. او پناه غوارم زۀ ستا د هغے بدئ نه كومه چه په دے شپه كښ ده او كومه چه د دے نه روسته ده. اے څما پروردګاره! زۀ ستا پناه غوارم د سستئ نه او د بوډاوالى د بدئ نه اے څما پروردګاره! زۀ ستا پناه غوارم د جهنم د عذاب نه او د قبر د عذاب نه او هر كله به چه صبا شو نو حضرت ﷺ به هم دغسے فرمائيل سحر كړو مونږ او سحر كړو د الله بادشاهئ.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمْسَى قَالَ أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ كله به ئے ماښام كړو نو وئيل به ئے. مونږ ماښام كړو او د الله بادشاهئ ماښام كړو. او ټول تعريفونه الله لره دى. څوك معبود نشته سوا د الله نه چه يو دے، څوك د هغۀ شريك نشته يا الله! زۀ ستا نه غوارم د دے

اللَّيْلَةِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَسُوءِ الْكِبَرِ وَفِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ قَالَ الْحَسَنُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ وَزَادَنِي فِيهِ زُبَيْدٌ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سُوَيْدٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمنِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ عَبْدِ اللهِ رَفَعَهُ أَنَّهُ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

شپې نیکئ نه او څهٔ چه په دے کښې دی دد ے د نیکئ نه او ستا په پناه کښې راځم دد ے د بدئ نه او څهٔ چه په دے کښې دی. یا الله زهٔ پناه غواړم ستا د سستئ او د بوډاوالی او د زیات عمر د بدئ نه او د دنیا د فتنې نه او د قبر د عذاب نه حسن بن عبید الله وئیلی دی چه زُبید «راوی» په دی کښې زیاته کړه او اوئے وئیل. څوك معبود نشته سوا د الله نه چه یو دے د هغهٔ څوك شریك نشته. دده بادشاهی او دده د پاره تعریف دے او هغه په هر څیز قادر دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ أَعَزَّ جُنْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَغَلَبَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ فَلَا شَيْءَ بَعْدَهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به فرمائیل چه نشته دے معبود برحق مګر الله تعالی دے چه یو دے. هغه عزت ورکړے دے لښکر خپل لره او مدد ئے کړے دے د خپل بنده او مغلوب کړے ئے دے د کافرانو جماعت لره هغه یواځے د هغهٔ نه پس څهٔ شے نشته دے.

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلِ اللَّهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي وَاذْكُرْ بِالْهُدَى هِدَايَتَكَ الطَّرِيقَ وَالسَّدَادِ سَدَادَ السَّهْمِ

د حضرت علیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل او ماته ئے اووے وایه چه یا الله هدایت اوکړے ما ته او سیدها کړے ما لره او اوئے فرمائیل چه دد ے دُعا د غوښتلو په وخت د هدایت نه دلارے هدایت او د راستئ نه د غشی د راستئ خیال کوه[1].

عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ

د عاصم بن کلیب نه په دے اسناد سره روایت دے او وئیل ما ته

---

[1] یعنی لکه څنګه چه چرته تلل منظور وی نو بنده نیغ د هغے په طرف روان وی. یو خواه بل خوا نهٔ ښکته کیږی. دغه شان د اللهؓ نه د هدایت غوښتو په وخت د نیغے لارے خیال ساتل پکار دی چه منزل مقصود ته اورسی او په شرع باندے روان وی. د ګمراهئ او بدعت په طرف کوږ نه شی او د راستئ غوښتلو په وخت دِ د غشی د راستئ خیال کوی. لکه څنګه چه غشے په نخښه باندے رسیږی اخوا دیخوا نه کږیږی دغه شان د خپل علم او عمل د راستئ خیال پکار دے چه باطل پکښې دخل او نهٔ مومی. او بله فائده ددے خیال داده چه د زړهٔ غفلت لرے شی او د زړهٔ حضور حاصل شی «تحفة الاخیار»

د اردو کتاب مترجم وائی چه دا وخت په سیده لاره باندے تلل ډیر مشکل دی ګمراهئ کولو والا او د نیغے لارے نه اړولو والا ډیر خواره شوی دی. خو الله تعالی په خپل فضل او کرم سره په دی زمانه کښې د حدیثو ترجمے اوکړلے. قرآن او سنت لره ایزده کړی او هغے باندے عمل اوکړی او د صحابه کرام او د فقهاؤ لو د مجتهدینو عقیدت او احترام لره د ځان حفاظت جوړ کړی.

قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالسَّدَادَ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِهِ

رسول الله ﷺ اووايه ته اللّٰهُمَّ الخ يعنى اے الله زۀ ستا نه د هدايت او د نيغے لارے غوښتونکے يم بيا (مخکښې) د پورتنى حديث پشان ذکر کړو.

بَابُ التَّسْبِيحِ أَوَّلَ النَّهَارِ وَعِنْدَ النَّوْمِ

باب: د ورځے په اول او اوده کيدو په وخت تسبيح وئيل

عَنْ جُوَيْرِيَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِينَ صَلَّى الصُّبْحَ وَهِيَ فِي مَسْجِدِهَا ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ أَنْ أَضْحَى وَهِيَ جَالِسَةٌ فَقَالَ مَا زِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِي فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا قَالَتْ نَعَمْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ

د اُمّ المؤمنين حضرت جويريه رضي الله عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ سحر وخت د هغے د خوانه رااووتو. هر کله چه حضرت ﷺ د سحر مونځ ادا کړو. او هغه د خپل مونځ په ځائے کښې وه. بيا حضرت ﷺ د څاښت په وخت واپس شو نو څۀ ګورى چه هغه هلته ناسته وه. حضرت ﷺ اوفرمائيل ته په هغه حال کښې ناسته ئے د کله نه چه ما ته پريخودے وے. جويريے رضي الله عنها اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائيل ما ستا نه روستو څلور کلمے اووے درے ځله کچرے هغه اوتللے شى د هغه کلمو سره کومے چه تا تر اوسه پورے وئيلى دى البته دغه به پرے درنے شى هغه کلمے دادى سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ يعنى زۀ د الله پاکى د خوبيانو سره د هغۀ د مخلوقات د شمار برابر او د هغۀ د رضامندئ او خوشحالئ برابر او د هغۀ د عرش د تول برابر او د هغۀ د کلماتو د سياهئ برابر وايم (يعنى ډير زيات ځکه چه د الله د کلمو څۀ حد نشته تول سمندر کچرے سياهى شى نو هغه به ختم شى او د الله تعالى کلمے به ختمے نۀ شى)

عَنْ جُوَيْرِيَةَ قَالَتْ مَرَّ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ صَلَّى صَلَاةَ الْغَدَاةِ أَوْ بَعْدَ مَا صَلَّى الْغَدَاةَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ خَلْقِهِ سُبْحَانَ اللهِ رِضَا نَفْسِهِ سُبْحَانَ

د جويريه رضي الله عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د هغوى په خوا تير شو (مخکښې) د پورتنى حديث پشان بيان کړو. مګر په دے کښې د څلورو کلمو نه مخکښې د سُبْحَانَ اللهِ الفاظ حضرت ﷺ اوفرمائيل.

اللهِ زِنَةَ عَرْشِهِ سُبْحَانَ اللهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ

عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ فَاطِمَةَ اشْتَكَتْ مَا تَلْقَى مِنَ الرَّحَى فِي يَدِهَا وَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْيٌ فَانْطَلَقَتْ فَلَمْ تَجِدْهُ وَلَقِيَتْ عَائِشَةَ فَأَخْبَرَتْهَا فَلَمَّا جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ عَائِشَةُ بِمَجِيءِ فَاطِمَةَ إِلَيْهَا فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا وَقَدْ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا فَذَهَبْنَا نَقُومُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَكَانِكُمَا فَقَعَدَ بَيْنَنَا حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمِهِ عَلَى صَدْرِي ثُمَّ قَالَ أَلَا أُعَلِّمُكُمَا خَيْرًا مِمَّا سَأَلْتُمَا إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا أَنْ تُكَبِّرَا اللهَ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ وَتُسَبِّحَاهُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَتَحْمَدَاهُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ

د حضرت علی ؓ نه روایت دے چه حضرت فاطمه ؓ بیماره شوه یا هغې شکایت اوکړو د هغه تکلیف چه هغې ته بهوو د میچن کولو نه او رسول الله ﷺ له قیدیان راغلل هغهٔ لاړهٔ نو حضرت ﷺ نے او نه موندو. نو حضرت عائشه ؓ میلاؤ شوه او هغې ته ئے دا حال بیان کړو. هر کله چه حضرت عائشې ؓ حضرت ﷺ ته د فاطمې د راتلو حال اووے نو دد ے پسه اوریدو سره رسول الله ﷺ زمونږ کورته تشریف راوړو. دغه وخت مونږ پخپله بستره باندے پریوتے وو. مونږ دا غوښتل چه را پاسو حضرت ﷺ اوفرمائیل د خپل ځائے نه مهٔ راپاسئ. بیا حضرت ﷺ زمونږ په مینځ کښې کیښناستو (یعنی د ښځې او خاوند په مینځ کښې) تر دے پورے چه ما د حضرت ﷺ د قدمونو یخ والے پخپله سینه باندے محسوس کړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل زهٔ تاسو دواړو ته هغه څهٔ او نهٔ ښایم چه هغه ډیر غوره دی د هغه څهٔ نه چه تاسو غوښتلی دی یعنی د خادم نه، هر کله چه تاسو دواړه اوده کیږئ نو تکبیر وایئ څلور دیرش ځله او سُبْحَانَ الله درے دیرش ځله او اَلْحَمْدُ لِلهِ درے دیرش ځله دا ستاسو دپاره د یو خادم نه غوره دی[1].

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ مُعَاذٍ أَخَذْتُمَا مَضْجَعَكُمَا مِنَ اللَّيْلِ

د شعبه نه په دے اسناد سره روایت دے. او د معاذ په حدیث کښې دی هر کله چه تاسو خپلے بسترے ته د شپے ورځئ.

عَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِ الْحَكَمِ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى وَزَادَ

حضرت علی ؓ د رسول الله ﷺ د حدیث روایت کړے دے څنګه چه حکم د ابن ابی لیلی نه روایت کړے دے او په

[1] سُبْحَانَ الله د حضرت فاطمې ؓ مرتبه د الله جل جلاله په تر څومره اوچته وه. هغوی په دنیا کښې څهٔ راحت نهٔ دے موندلے همیشه په مشقت او تکلیف سره ئے ژوند تیر کړے دے. او هر کله چه د حضرت علی ؓ د فراغت او دولت زمانه راغله نو هغه دد ے نه مخکښې ددنیا نه رخصت شوے وه او د خپل والد ماجد بزرګوار سره میلاؤ شوے وه. یا الله او بخښے مونږ لره د حضرت فاطمې زهرا ؓ په طفیل سره او د هغې د اطاعت په طفیل سره او زمونږه خاتمه په خیر کړے. آمین

فِي الْحَدِيثِ قَالَ عَلِيٌّ مَا تَرَكْتُهُ مُنْذُ سَمِعْتُهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيلَ لَهُ وَلاَ لَيْلَةَ صِفِّينَ قَالَ وَلاَ لَيْلَةَ صِفِّينَ وَفِي حَدِيثِ عَطَاءٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ قُلْتُ لَهُ وَلاَ لَيْلَةَ صِفِّينَ

دے کښې دا زیاته ده چه حضرت علی اووے ما دا وظیفه چرته پریخودے نه ده خلقو اووے د صفین په شپه هم؟ (چه ډیره د پریشانۍ شپه وه سحر له د معاویه سره جنګ وو) هغوی اووے د صفین په شپه کښې هم ما دا وظیفه پریخودے نه ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ فَاطِمَةَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ خَادِمًا وَشَكَتِ الْعَمَلَ فَقَالَ مَا أَلْفَيْتِيهِ عِنْدَنَا قَالَ أَلاَ أَدُلُّكِ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ لَكِ مِنْ خَادِمٍ تُسَبِّحِينَ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ وَتَحْمَدِينَ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ وَتُكَبِّرِينَ أَرْبَعًا وَثَلاَثِينَ حِينَ تَأْخُذِينَ مَضْجَعَكِ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه حضرت فاطمه د حضرت ﷺ خواله راغله د یوخادم د غوښتلو دپاره او د ډیر کار کولو نه ئے شکایت اوکړو چه په ما کارونه زیات دی. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه خما سره خو خادم نشته دے. البته زۀ به تاته هغه څیز اوښایم چه هغه د خادم نه بهتر دے. درے دیرش ځله سُبحٰن الله او درے دیرش ځله اَلْحَمْدُلله او څلور دیرش ځله الله اکبر وایه هر کله چه اوده کیږے.

عَنْ سُهَيْلٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ

د سهیل نه په دے اسناد سره روایت دے.

بَابُ اسْتِحْبَابِ الدُّعَاءِ عِنْدَ صِيَاحِ الدِّيكِ

باب: د چرګ د آذان کولو په وخت دُعا غوښتل مستحب دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهَا رَأَتْ شَيْطَانًا

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل هر کله چه تاسو د چرګ بانګ واورئ نو د الله تعالی نه د هغهٔ فضل غوارئ. ځکه چه دغه چرګ فرښتے لره اووینی. او هر کله چه تاسو د خرنعره واورئ نو اعوذ بالله وایئ ځکه چه خر شیطان لره اووینی[1]

[1] د فرښتو په مخکښې ئے د دعا حکم اوکړو په دے امید سره چه فرښته هم په دُعا کښې شریکه شی او د دے نه دا معلومه شوه چه د صالحینو په حضور کښې دُعا مستحب ده. (نووی)

بَابُ دُعَاءِ الْكَرْبِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْكَرْبِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَحَدِيثُ مُعَاذِ بْنِ هِشَامٍ أَتَمُّ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَدْعُو بِهِنَّ وَيَقُولُهُنَّ عِنْدَ الْكَرْبِ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ مُعَاذِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ قَتَادَةَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ قَالَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ مُعَاذٍ عَنْ أَبِيهِ وَزَادَ مَعَهُنَّ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ

بَابُ فَضْلِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْكَلَامِ أَفْضَلُ قَالَ مَا اصْطَفَى اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ أَوْ لِعِبَادِهِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكَ بِأَحَبِّ الْكَلَامِ إِلَى اللهِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَخْبِرْنِي بِأَحَبِّ

باب : د سختئ په وخت دُعا

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ به د سختئ (او مشکل) په وخت دا دُعا لوستله لَا اِلٰهَ اِلَّا الله د آخیره پورے. یعنی بل معبود نشته دے سوا د الله نه چه لوئے شان والا بردبار دے. بل معبود نشته سوا د الله نه چه مالك دے د آسمان او مالك دے د زمکے او مالك دے د عرش چه عزت والا دے.

د هشام نه په دے اسناد سره روایت دے او د معاذ بن هشام حدیث زیات مکمل دے.

د ابن عباسؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ به دے کلمو لره د سختئ په موقع لوستلے بیائے بیان کړو حدیث لره داسے څنګه پورته د معاذ بن هشام حدیث تیر شو. مګر په دے کښ دی رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ.

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ ته چه به هر کله څۀ لوئے کار مخے ته راغے نو دا دُعا به ئے لوستله په دے کښ دومره زیاته ده چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ

باب : د سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ فضیلت

د ابوذرؓ نه روایت دے چه د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړے شو چه کوم کلام افضل یعنی غوره دے. حضرتﷺ اوفرمائیل کوم چه الله غوره کړے دے د خپلو فرښتو یا د بندیګانو دپاره سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ.

د ابوذرؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل آیا زۀ تاسو ته هغه کلام اونۀ ښایم چه هغه الله پاك ته ډیر غوره دے. ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ اوښایئ ما ته هغه کلام چه الله تعالی ته ډیر

الْكَلاَمِ إِلَى اللهِ فَقَالَ إِنَّ أَحَبَّ الْكَلاَمِ إِلَى اللهِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ

خوښ دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل ډیر غوره الله تعالی ته دا کلام دے سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ.

بَابُ فَضْلِ الدُّعَاءِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ

باب: پشی شا د دُعا کولو فضیلت

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَدْعُو لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ إِلاَّ قَالَ الْمَلَكُ وَلَكَ بِمِثْلٍ

د ابوالدرداءؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یو مسلمان داسے نشته دے چه هغه د خپل رور (مسلمان) دپاره د هغۀ په غیر موجودګئ کښې دُعا اوکړی مګر فرښته وائی چه تاته د هم دغه میلاؤ شی (ځکه چه په غیر موجودګئ کښې دُعا کول د اخلاص دلیل دے او د اخلاص ثواب بے حده دے)

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ دَعَا لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ آمِينَ وَلَكَ بِمِثْلٍ

د ابودرداءؓ نه په روایت دے چه هغوی اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه حضرت ﷺ فرمائیل څوك چه دُعا اوکړی د خپل رور دپاره د هغۀ پشی شا نو مؤکل فرښته امین وائی او وائی داسے دُعا د تاته هم میلاؤ شی.

عَنْ صَفْوَانَ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ صَفْوَانَ وَكَانَتْ تَحْتَهُ أُمُّ الدَّرْدَاءِ قَالَ قَدِمْتُ الشَّامَ فَأَتَيْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فِي مَنْزِلِهِ فَلَمْ أَجِدْهُ وَوَجَدْتُ أُمَّ الدَّرْدَاءِ فَقَالَتْ أَتُرِيدُ الْحَجَّ الْعَامَ فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَتْ فَادْعُ اللهَ لَنَا بِخَيْرٍ فَإِنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُولُ دَعْوَةُ الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ كُلَّمَا دَعَا لِأَخِيهِ بِخَيْرٍ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ آمِينَ وَلَكَ بِمِثْلٍ قَالَ فَخَرَجْتُ إِلَى السُّوقِ فَلَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَقَالَ لِي مِثْلَ ذَلِكَ يَرْوِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د صفوان بن عبد الله بن صفوان نه روایت دے او د هغوی په نکاح کښې أُمّ الدرداء وه. هغوی وائی زۀ شام ته راغلم نو د ابوالدرداء کورته لاړم خو هغه میلاؤ شوه. هغې ما ته اووے تۀ سخکال د حج اراده لرے. ما اووے آو. ام الدرداء اووے چه تۀ ځما دپاره هم دُعا اوکړه. ځکه چه رسول الله ﷺ به فرمائیل چه د مسلمان دُعا د خپل رور دپاره د هغۀ په غیر موجودګئ کښې قبلیږی. د هغۀ د سر سره یو فرښته معین ده هر کله چه هغه د خپل رور د غوره والی دُعا کوی نو هغه فرښته پرے امین وائی او وائی تا ته د هم دغسے میلاؤ شی. بیا زۀ بازار ته راااووتم او د ابوالدرداء سره میلاؤ شوم. هغوی راته هم د رسول الله ﷺ نه دغه شان روایت بیان کړو.

عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَبْدِاللهِ بْنِ صَفْوَانَ

عبد الملك بن ابی سلیمان په دے اسناد سره دغسے روایت کړے دے. په دے کښې دی صفوان بن عبد الله بن صفوان

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْحَمْدِ بَعْدَ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ

باب : د خوراك څښناك نه پس د خدائے شكر كول مستحب دی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا

د انس بن مالك نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی الله خامخا راضی کيږی د بنده نه هر كله چه هغه خوراك اوكړی او د هغهٔ شكر ادا كړی (يعنی سحر مابنام يا په بل وخت د خوړلو څښلو نه پس)

عَنْ زَكَرِيَّاءَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

همدا سے روايت د زكريا نه هم په دے سند سره ذكر دے.

بَابُ اسْتِجَابَةِ الدُّعَاءِ مَا لَمْ يَعْجَلْ

باب : چه جلتی نهٔ كوی نو دُعا قبليږی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ فَيَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ فَلَا أَوْ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي

د ابوهريره نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی پتاسو كښې د يو دُعا قبليږی د كومے پورے چه هغه جلتی او نهٔ كړی او داسے اونهٔ وائی چه ما دُعا اوكړه او خما دُعا قبوله نهٔ شوه يا نهٔ قبليږی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ فَيَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ رَبِّي فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي

د ابوهريره نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ستاسو نه د يو دُعا قبليږی د كومے پورے چه هغه تادی اونهٔ كړی او داسے اونهٔ وائی چه ما دُعا اوغوښته د خپل رب نه او هغه قبوله نهٔ شوه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَا يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا الْاِسْتِعْجَالُ قَالَ يَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ أَرَ يَسْتَجِيبُ لِي فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذٰلِكَ وَيَدَعُ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی هميشه د بنده دُعا قبليږی د كومے پورے چه هغه د ګناه يا د خپلولئ شو كولو دُعا او نهٔ كړی او تادی او نهٔ كړی. خلقو اووے يا رسول الله د تادئ څهٔ معنی ده. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه داسے اووائی. ما دُعا اوكړه خو يقين مے نهٔ راځی چه قبوله شی پس نا اميده شی او دُعا پريږدی (دا خبره الله ته ناخوښه شی نو نهٔ ئے قبلوی. بنده له پكار دی

الدُّعَاءَ

چه د الله نه همیشه د فضل او کرم امید لری. کهٔ په دنیا کښې ئې دُعا قبوله نهٔ شی نو په آخرت کښې به ورته د هغې بدله میلاؤ شی)

بَابُ أَكْثَرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَ النَّارِ

باب: په جنت او په دوزخ کښې به ډیروالے د چا وی؟

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينُ وَإِذَا أَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوسُونَ إِلاَّ أَصْحَابَ النَّارِ فَقَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ

د أسامه بن زید ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زهٔ د جنت په دروازه باندے اودریدم نو څهٔ گورم چه زیات هغه خلق په هغې کښې دی چه هغه (په دنیا کښې) مسکینان دی او امیر مالدار خلق حصار کړے شوی دی، یعنی کوم چه جنتیان دی هغه هم اودرولے شوی دی د حساب کتاب دپاره، او کوم چه دوزخیان دی هغوی ته خو دوزخ ته د تلو حکم کیدۀ او ما د دوزخ په دروازه باندے د اودریدو سره اولیدل نو هلته ښځے زیاتے وے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ قَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ

د ابن عباس ؓ نه روایت دے وائی چه محمد ﷺ فرمائیلی دی زهٔ جنت ته ورښکاره شوم نو د هغه ځائے خلق زیات هغه وو چه هغه فقیران وو (په دنیا کښې) او د دوزخ نندارہ چه مے اوکړه نو هلته زیاتے ښځے وے.

عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا الإِسْنَادِ

د ایوب نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطَّلَعَ فِي النَّارِ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَيُّوبَ

د ابن عباس ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ دوزخ ته ورښکاره شو. بیا (مخکښې) د ایوب د حدیث پشان بیان کړو

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ

د ابن عباس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. بیائے د پورتنی حدیث پشان بیان کړو.

عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ قَالَ كَانَ لِمُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ امْرَأَتَانِ فَجَاءَ مِنْ عِنْدِ إِحْدَاهُمَا فَقَالَتِ الأُخْرَى جِئْتَ مِنْ عِنْدِ فُلاَنَةَ فَقَالَ جِئْتُ مِنْ عِنْدِ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ

د ابوالتیاح نه روایت دے وائی چه د مطرف بن عبد الله دوه ښځے وے. هغه د یوے ښځی خواله راغے نو هغې بلے اووے تهٔ د فلانئ ښځے د خوانه راغلے ئې. مطرف اووے چه زهٔ د عمران بن حصین د خوا نه راغلے یم. هغوی حدیث

فَحَدَّثَنَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَقَلَّ سَاكِنِي الْجَنَّةِ النِّسَاءُ

بیان کړو ماته چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د جنت په اوسیدونکو کښې ښځې ډیرے کمے دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ مِنْ دُعَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ وَجَمِيعِ سَخَطِكَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی د رسول الله ﷺ دا دُعا وه اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ د آخره پورے یعنی یا الله زهٔ پناه غواړم د نعمت د زوال نه او ستا د عافیت او راکړی شوی صحت د واپس اخستلو نه او ستا د ناڅاپه عذاب نه او ستا د غضب والا ټولو کارونو نه

عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ قَالَ سَمِعْتُ مُطَرِّفًا يُحَدِّثُ أَنَّهُ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ بِمَعْنَى حَدِيثِ مُعَاذٍ

ابوالتیاح وئیلی دی چه ما مطرف لره حدیث بیانونکے اوریدلے دے چه د هغهٔ دوه ښځے وے (مخکښې) د معاذ د حدیث پشان بیان کړو.

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً هِيَ أَضَرُّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ

د اسامه بن زید نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما د ځان نه روستو سړو ته د نقصان رسونکو ښځو نه زیاته یوه فتنه هم نهٔ ده پریخودے (دوی اکثر د شرع خلاف کار کوی او کوم سړے چه د ښځو مرید وی هغهٔ لره مجبوره کوی)

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ وَسَعِيدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ أَنَّهُمَا حَدَّثَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِي النَّاسِ فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ

د اسامه بن زید بن حارثه او د سعید بن زید بن عمرو بن نفیل نه روایت دے دوی دواړو د رسول الله ﷺ حدیث بیان کړو چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی چه ما د خپل ځان نه روسته په خلقو کښې هیڅ یوه فتنه زیات نقصان ورکونکے پریخودے نهٔ ده څومره چه د سړو دپاره ښځے دی.

عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د سلیمان تیمی نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دنیا (په ظاهر کښې) خوږه او شنه ده (لکه تازه میوه) الله تعالی تاسو لره حاکم کولو والا دے په دنیا کښې بیا ګوری چه تاسو څهٔ عمل کوئ نو ځان اوساتئ د دنیا نه (یعنی د داسے دنیا نه چه د الله نه مو

إِسْرَائِيلَ كَانَتْ فِي النِّسَاءِ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ بَشَّارٍ لِيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ

غافله کوئ او ځان اوساتئ د ښځو نه ځکه چه اوله فتنه د بنی اسرائیلو د ښځو نه شروع شوے وه[1].

بَابُ قِصَّةِ أَصْحَابِ الْغَارِ

باب : د غار والاؤ قصه

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ يَتَمَشَّوْنَ أَخَذَهُمُ الْمَطَرُ فَأَوَوْا إِلَى غَارٍ فِي جَبَلٍ فَانْحَطَّتْ عَلَى فَمِ غَارِهِمْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَانْطَبَقَتْ عَلَيْهِمْ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ انْظُرُوا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوهَا صَالِحَةً لِلَّهِ فَادْعُوا اللهَ تَعَالَى بِهَا لَعَلَّ اللهَ يُفَرِّجُهَا عَنْكُمْ فَقَالَ أَحَدُهُمُ اللَّهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِي وَالِدَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ وَامْرَأَتِي وَلِي صِبْيَةٌ صِغَارٌ أَرْعَى عَلَيْهِمْ فَإِذَا أَرَحْتُ عَلَيْهِمْ حَلَبْتُ فَبَدَأْتُ بِوَالِدَيَّ فَسَقَيْتُهُمَا قَبْلَ بَنِيَّ وَأَنَّهُ نَأَى بِي ذَاتَ يَوْمٍ الشَّجَرُ فَلَمْ آتِ حَتَّى أَمْسَيْتُ فَوَجَدْتُهُمَا قَدْ نَامَا فَحَلَبْتُ كَمَا كُنْتُ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی وائی چه درے سړی روان وو چه په دے کښې پرے باران راغے او هلته په غر کښې یو غار وو هغے ته دننه شول د غر نه یوه ګټه د غار په خله باندے رااوغورځیده او د غار خله ئے بنده کړه. هغه یو نورو ته اووے. خپل خپل نیک عملونه په خیال کښې راولئ کوم چه تاسو خاص د الله د رضا دپاره کړی وی او دُعا اوغواړئ د هغه عملونو په وسیله سره کیدے شی چه الله تعالی ستاسو دپاره دا ګټه لرے کړی نو یو د هغوی نه اووے اے الله بیشکه ځما مور پلار ډیر بوډاګان شوی وو. او ځما یوه ښځه او واړهٔ واړهٔ بچی وو. چه ما به د هغوی دپاره ګډے بزے ساتلے هر کله چه به مے ماښام څرولو نه واپس کورته راوستے نو بیئ به مے ترے اولوشل نو مخکښې به مے د خپل پلار مور نه شروع اوکړه. نو په هغوی به مے د خپلو بچو نه مخکښې اوڅکول او البته یوه ورځ ما لره اوښ لرے باسلم (یعنی پانړے ډیرے لرے میلاؤ شوے) او زهٔ کور ته را نهٔ غلم ترڅو پورے چه په ما شپه شوه چه راغلم نو خپل پلار او مور مے اودهٔ اوموندل بیا ما پئ اولوشل لکه څنګه چه به مے لوشل. نو ما پئ راوړل

---

[1] الله تعالی تاسو لره حاکم کولو والا دے په دنیا کښې بیا ګوری چه تاسو څنګه عمل کوئ. دغه شان اوشوه چه د مسلمانانو حکومت د مشرق نه تر مغربه پورے خور شو. بیا د هغوی د بدو اعمالو په وجه سره تنزل راغے. او الله تعالی عزوجل بل قوم له حکومت ورکړو. اوس مسلمانان خائے په خائے خوارهٔ او ذلیل او د غیرو قومونو محکوم دی. ددے نه ددین اسلام تصدیق کیږی. لکه څنګه چه مخبر صادق ﷺ فرمائیلی وو هم هغه شان اوشو. او دا هم ثابته شوه چه د مسلمانانو دین حق او رښتونے دے د کومے پورے چه هغه په خپل دین باندے قا۱۰م وو نو د هغوی حکومت او عزت به ورځ په ورځ سوا کیدو. او د کله نه چه هغوی خپل دین پریخودے او د پلار نیکهٔ د رسمونو پابند شوی دی او د کافرانو چال چلن ئے اختیار کړے دے نو ټول حکومت او عزت ئے د خاورو سره میلاؤ شو.

أَحْلُبُ فَجِئْتُ بِالْحِلَابِ فَقُمْتُ عِنْدَ رُءُوسِهِمَا أَكْرَهُ أَنْ أُوقِظَهُمَا مِنْ نَوْمِهِمَا وَأَكْرَهُ أَنْ أَسْقِيَ الصِّبْيَةَ قَبْلَهُمَا وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ قَدَمَيَّ فَلَمْ يَزَلْ ذٰلِكَ دَأْبِي وَدَأْبَهُمْ حَتّٰى طَلَعَ الْفَجْرُ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهَا السَّمَاءَ فَفَرَجَ اللّٰهُ مِنْهَا فُرْجَةً فَرَأَوْا مِنْهَا السَّمَاءَ وَقَالَ الْآخَرُ اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَتْ لِيَ ابْنَةُ عَمٍّ أَحْبَبْتُهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ وَطَلَبْتُ إِلَيْهَا نَفْسَهَا فَأَبَتْ حَتّٰى آتِيَهَا بِمِائَةِ دِينَارٍ فَتَعِبْتُ حَتّٰى جَمَعْتُ مِائَةَ دِينَارٍ فَجِئْتُهَا بِهَا فَلَمَّا وَقَعْتُ بَيْنَ رِجْلَيْهَا قَالَتْ يَا عَبْدَ اللّٰهِ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ إِلَّا بِحَقِّهِ فَقُمْتُ عَنْهَا فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا فُرْجَةً فَفَرَجَ لَهُمْ وَقَالَ الْآخَرُ اَللّٰهُمَّ إِنِّي كُنْتُ اسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا بِفَرَقِ أَرُزٍّ فَلَمَّا قَضَى عَمَلَهُ قَالَ أَعْطِنِي حَقِّي فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ فَرَقَهُ فَرَغِبَ عَنْهُ فَلَمْ أَزَلْ أَزْرَعُهُ حَتّٰى

او د پلار مور د سر خوا ته اودریدم. ما ته د هغوی د خوب نه ویښول بد ښکاریدل او په خپلو هلکانو څکول راته د هغوی نه مخکښ هم بد ښکاریدل او هلکانو د لوږے د وجے نه شور کولو خما د دوارو خپو په خواه کښ په دے شان برابر خما او د هغوی حال وو د سحره پورے (یعنی زۀ د هغوی په انتظار کښ یئ په لاس توله شپه ولاړ اودریدم او هلکانو ژړا کوله نۀ ما پخپله څکل او نۀ مے په هلکانو څکول پس الهی تۀ خبر ئے چه داسے محنت او مشقت ما ستا د رضا مندئ دپاره کړے وی نو دا ګټه دومره بیر ته کړه چه مونږ پکښ آسمان اووینو. نو الله تعالی په هغے کښ وو سُورے اوکړو او هغوی پکښ آسمان اولیدو. دویم اووے یا الهی قصه داده. چه خما د ترۀ یوه لور وه چه په هغے زۀ مئین وم لکه څنګه چه سړی د ښځو سره محبت کوی (نو زۀ هم په هغے عاشق وم) نو زۀ د هغے په طرف مائل شوم او د هغے د وصال خواهشمند شوم (یعنی د حرام کارئ اراده مے اوکړه) هغے او نۀ منل او دائے اووے چه ترڅو د سل اشرفئ نۀ وی راکړے تر هغے نه راضی کیږم. ما کوشش اوکړو او سل روپئ مے پیدا کړے او د هغے خواله مے رلوړے. هر کله چه ما د هغے خپے اوچتے کړے (یعنی د جماع په اراده سره) هغے لووے اے د الله بنده د الله نه اویریږه او مۀ ما توه مُهر لره مګر په حق سره (یعنی د نکاح بکارت مۀ زائله کوه) نو د هغے نه سمدستی پاڅیدم. الهی تۀ خبر ئے کچرے دا کار ما ستا د رضا دپاره کړے وی نو دا سُورے لږ زیات کړه پس هغه سُورے نور هم سوا شو. دریم لووے الهی ما په یو سړی مزدوری اوکړه په یو فرق وریجو باندے. هر کله چه هغه خپل کار اوکړو نو اوئے وئیل چه خما حق راکړه. ما دِ ک فرق وریجے د هغۀ په مخکښ کیښودے. هغۀ وانۀ خستے. ما اوکرلے (په هغے کښ

جمعتُ منهُ بقرًا ورِعاءَها فجاءَني فقالَ اتّقِ اللهَ ولاَ تظلِمني حقّي قلتُ اذهبْ إلى تلكَ البقرِ ورِعائِها فخذْها فقالَ اتّقِ اللهَ ولاَ تستهزئْ بي فقلتُ إنّي لا أستهزئُ بكَ خُذْ ذلكَ البقرَ ورِعاءَها فأخذَهُ فذهبَ بهِ فإنْ كنتَ تعلمُ أنّي فعلتُ ذلكَ ابتغاءَ وجهكَ فافرُجْ لنا ما بقيَ ففرجَ اللهُ ما بقيَ

برکت شو) تر دے پورے چه ما جمعه کړے د هغے مال نه غواګانے او د هغے د څرولو دپاره غلام. بیا هغه مزدور خما خواله راغے او اوئے وئیل د الله نه اویریږه او خما حق مۀ وهه ما اووے خه دغه غوا غوایان او د هغے څرونکی تول واخله هغۀ اووے د الله نه اویریږه او خما سره ټوقے مۀ کوه. ما اووے ټوقے نۀ کوم. دغه غوا او غوایان سره د خادم تۀ واخله هغۀ هغوی لره واخستل. پس اے ربه تۀ خبردار ئے کۀ دا کار ما ستا د رضا دپاره کړے وی نو څومره باقی سورے چه پاتے دے هغه هم کهولاؤ کړه. الله تعالی هغے لره هم کهولاؤ کړو (او خلق د هغه غار نه بهر راااووتل)[1].

عن ابنِ عمرَ عنِ النّبيِّ صلّى اللهُ عليهِ وسلّمَ بمعنى حديثِ أبي ضمرةَ عن موسى بنِ عقبةَ وزادوا في حديثِهم وخرجوا يمشونَ وفي حديثِ صالحٍ يتماشونَ إلاّ عبيدَ اللهِ فإنّ في حديثِهِ وخرجوا ولم يذكرْ بعدَها شيئًا

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے د رسول اللهﷺ حدیث څنګه چه ابوضمره د موسیٰ بن عقبه نه روایت کړے دے. او په دے کښں دا زیاته ده. وَخَرَجُوا يَمْشُوْنَ او د صالح په حدیث کښں دی يَتَمَاشُوْنَ. مګر د عبید الله په حدیث کښں صرف د وَخَرَجُوا لفظ دے. د دے نه روسته هیڅ نشته.

عن عبدِ اللهِ بنِ عمرَ قالَ سمعتُ رسولَ اللهِ صلّى اللهُ عليهِ وسلّمَ يقولُ انطلقَ ثلاثةُ رهطٍ ممّنْ كانَ قبلكُمْ حتّى آواهمُ المبيتُ إلى غارٍ واقتصَّ الحديثَ بمعنى

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے وائي چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. ستاسو نه مخکښں درے کور ودان یعنی بال بچ والا روان وو تر دے پورے چه شپه پرے راغله په یو غار کښں بیا ئے بیان کړےده تو له قصه د دے پورته حدیث

[1] په دے حدیث کښں د ډیرو کارنو فائدے دی. اول دا چه په سخت مصیبت کښں او سخته بلا کښں چه د هغے څۀ تدبیر نۀ شی کیدے نۀ خپلو د اخلاص عملونو لره د اخلاصی وسیله کړه الله به د هغے نه خلاصے درکوی. دویم دا چه د پلار مور حق پخپل خان او بنځے او د خپلو بچو په حق باندے مقدم دے او په لویو نیکو کښں داخل دے. دریم دا چه د قادر کیدو باوجود د ګناه نه خان ساتل او صرف د الله د یرے نه شهوت دباؤول د غټ کمال خبره ده او الله ته ډیر غوره دی. څلورم دا چه د حق والاؤ حق ادا کول د الله د رضا یوه خوندوره وسیله ده پنځم دا چه د مالك د اجازت نه بغیر د هغۀ غله اوکړے نو د هغے د حاصلاتو مالك هم هغه مالك دے. (تحفة الاخیار)

حَدِيثِ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَجُلٌ مِنْهُمُ اَللّٰهُمَّ كَانَ لِي أَبَوَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ فَكُنْتُ لَا أَغْبِقُ قَبْلَهُمَا أَهْلًا وَلَا مَالًا وَقَالَ فَامْتَنَعَتْ مِنِّي حَتَّى أَلَمَّتْ بِهَا سَنَةٌ مِنَ السِّنِينَ فَجَاءَتْنِي فَأَعْطَيْتُهَا عِشْرِينَ وَمِائَةَ دِينَارٍ وَقَالَ فَثَمَّرْتُ أَجْرَهُ حَتَّى كَثُرَتْ مِنْهُ الْأَمْوَالُ فَارْتَعَجَتْ وَقَالَ فَخَرَجُوا مِنَ الْغَارِ يَمْشُونَ

پشان خو په دے کښې داسے دی چه یو سړی اووے یا الله خما پلار او مور ضعیفان وو ما به د هغوی نه مخکښې ماښام په هیچا نه څښول نهٔ په کور والاو نهٔ په غلامانو. او داسے دی چه هغه ښځے خما خبره او نهٔ منله تردے پورے چه یو کال په قحط کښې گرفتاره شوه او بیا خما خواله راغله ما هغے له شپږ شلے دیناره ورکړل (فی سبیل الله). او داسے دی چه ما د هغهٔ مزدور هغه أجرت اوکرلو تردے پورے چه ډیر زیات مال د هغے نه حاصل شو او هغه گر بر شروع کړل او په آخر کښې دادی چه بیا هغوی د غار نه راااووتل او روان شو.

كِتَابُ التَّوْبَةِ[۱]

د توبې بيان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي وَأَنَا مَعَهُ حَيْثُ يَذْكُرُنِي وَاللهِ لَلَّهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ يَجِدُ ضَالَّتَهُ بِالْفَلَاةِ وَمَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا وَمَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا وَإِذَا أَقْبَلَ إِلَيَّ يَمْشِي أَقْبَلْتُ إِلَيْهِ أُهَرْوِلُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه الله تعالى فرمائى زۀ د خپل بنده د گمان سره يم او زۀ د هغۀ سره يم (د علم په بنا) چرته چه هغه ما ياد كړى. او البته الله تعالى د خپل بنده په توبه سره داسے خوشحاليږى لكه څنگه چه ستاسو نه يو كس په خالى زمكه كښې خپل ورك شوى څناور اومومى. او څوك چه څما طرفته يوه لويشت رانژدے شى نو زۀ د هغۀ طرفته يو لاس ورنژدے شم. او څوك چه يو لاس رانژدے شى نو زۀ د هغۀ طرفته يو باع (د دواړو خورو لاسونو) ورنژدے شم. او څوك چه څما طرفته په قدم راځى نو زۀ د هغۀ طرفته په منډه ورځم (د دے حديث شرح پورته تيره شوے ده)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ أَحَدِكُمْ مِنْ أَحَدِكُمْ بِضَالَّتِهِ إِذَا وَجَدَهَا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل خامخا الله تعالى پتاسو كښې چه هر كله څوك توبه اوباسى د هغۀ نه زيات خوشحاله شى لكه څنگه چه پتاسو كښې يو كس په خپل ورك شوى څناور موندو سره خوشحاليږى.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ

ابوهريرهؓ د رسول الله ﷺ د پورتنى حديث پشان روايت كړو.

عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللهِ أَعُودُهُ وَهُوَ مَرِيضٌ فَحَدَّثَنَا

د حارث بن سويدؓ نه روايت دے وائى چه زۀ د عبد اللهؓ د بيمارۍ تپوس له لاړم. هغوى ما ته دوه حديثونه بيان كړل. يو د خپل طرفنه

---

[۱] نوویؒ وائى په كتاب الايمان كښې تير شوى دى چه د توبې درے اركان دى. يو د گناه نه قلاريدل دويم په كړى گناه باندے شرمنده كيدل دريم اراده كول چه بيا به ئے نۀ كوم. او كوم گناه چه د بنديگانو حق وى نو د هغے حق نه خان خلاصول او توبه د ټولو گناهونو نه فوراً واجب ده خواه كۀ هغه گناه صغيره وى يا كبيره او توبه د يو گناه نه صحيح ده اگر كۀ په نورو گناهونو باندے هميش والے كوى او د توبې نه پس كچرے بيا گناه اوكړى نو دويمه گناه به ليكلے شى او توبه به باطله نۀ وى. (نوویؒ مختصراً)

بِحَدِيثَيْنِ حَدِيثًا عَنْ نَفْسِهِ وَحَدِيثًا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ مِنْ رَجُلٍ فِي أَرْضٍ دَوِيَّةٍ مَهْلِكَةٍ مَعَهُ رَاحِلَتُهُ عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَنَامَ فَاسْتَيْقَظَ وَقَدْ ذَهَبَتْ فَطَلَبَهَا حَتَّى أَدْرَكَهُ الْعَطَشُ ثُمَّ قَالَ أَرْجِعُ إِلَى مَكَانِيَ الَّذِي كُنْتُ فِيهِ فَأَنَامُ حَتَّى أَمُوتَ فَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى سَاعِدِهِ لِيَمُوتَ فَاسْتَيْقَظَ وَعِنْدَهُ رَاحِلَتُهُ وَعَلَيْهَا زَادُهُ وَطَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَاللهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ الْعَبْدِ الْمُؤْمِنِ مِنْ هَذَا بِرَاحِلَتِهِ وَزَادِهِ

او یو د رسول الله ﷺ د طرفنه هغوی اووے ما اوریدلی دی د رسول الله نه چه فرمائیلی ئے وو البته الله تعالی د خپل مومن بنده په توبه سره دد ے نه زیات خوشحالیږی لکه یو سړے په یو هوار میدان کښې (چه هلته نۀ سورے وی نۀ اوبۀ وی) چه هغه هلاکولو والاوی او د هغۀ سره یو اوښ هم وی چه په هغۀ باندے د هغۀ اوبۀ او خوراك پروت وی (د ے اوښ یو طرفته اوتړی) او اوده شی. هر کله چه راویښ شی نو خپل اوښ او نۀ مومی. د ے د هغے په تلاش کښې ډیر اوګرځی حتی چه ډیر تږے شی. بیا اووائی چه زۀ چه چرته وم هلته به واپس لاړ شم چه هلته په اودو اودو مړ شم. بیا هلته خپل سر په لاس دپاسه کیږدی د مرګ دپاره. او اوده شی. لږ ساعت پس چه سترګے اوغړوی نو هغه خپل اوښ خپل سر ته ولاړ اووینی چه هغه توښه پرے هم ده خوراك هم او اوبۀ هم نو الله تعالی د مؤمن بنده په توبه دد ے نه زیات خوشحالیږی څومره چه دغه سړی ته په خپل اوښ او توښه سره خوشحالی راغله

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ مِنْ رَجُلٍ بِدَاوِيَّةٍ مِنَ الْأَرْضِ

د اعمش نه په د ے اسناد سره روایت د ے. (په د ے کښې دی) حضرت ﷺ اوفرمائیل. څوك سړے په خوشی میدان کښې وی.

عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ حَدِيثَيْنِ أَحَدُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَالْآخَرُ عَنْ نَفْسِهِ فَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ بِمِثْلِ حَدِيثِ جَرِيرٍ

د حارث بن سوید نه روایت د ے چه ما ته عبد الله دوه حدیثونه بیان کړل یو د رسول الله ﷺ د طرفنه او دویم د خپل طرفنه هغوی اووے رسول الله ﷺ اوفرمائیل. الله تعالی خامخا زیات خوشحالیږی د خپل مؤمن بنده په توبه (مخکښې څنګه چه د جریر په حدیث کښې دی.

عَنْ سِمَاكٍ قَالَ خَطَبَ النُّعْمَانُ بْنُ بَشِيرٍ فَقَالَ لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ رَجُلٍ

د سماك نه روایت د ے وائی چه نعمان بن بشیر خطبه لوستله نو اوئے فرمائیل. الله ته د خپل بنده په توبه سره د هغه سړی نه زیاته

حَمَلَ زَادَهُ وَمَزَادَهُ عَلَى بَعِيرٍ ثُمَّ سَارَ حَتَّى كَانَ بِفَلَاةٍ مِنَ الْأَرْضِ فَأَدْرَكَتْهُ الْقَائِلَةُ فَنَزَلَ فَقَالَ تَحْتَ شَجَرَةٍ فَغَلَبَتْهُ عَيْنُهُ وَانْسَلَّ بَعِيرُهُ فَاسْتَيْقَظَ فَسَعَى شَرَفًا فَلَمْ يَرَ شَيْئًا ثُمَّ سَعَى شَرَفًا ثَانِيًا فَلَمْ يَرَ شَيْئًا ثُمَّ سَعَى شَرَفًا ثَالِثًا فَلَمْ يَرَ شَيْئًا فَأَقْبَلَ حَتَّى أَتَى مَكَانَهُ الَّذِي قَالَ فِيهِ فَبَيْنَمَا هُوَ قَاعِدٌ إِذْ جَاءَهُ بَعِيرُهُ يَمْشِي حَتَّى وَضَعَ خِطَامَهُ فِي يَدِهِ فَلَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ الْعَبْدِ مِنْ هَذَا حِينَ وَجَدَ بَعِيرَهُ عَلَى حَالِهِ قَالَ سِمَاكٌ فَزَعَمَ الشَّعْبِيُّ أَنَّ النُّعْمَانَ رَفَعَ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَّا أَنَا فَلَمْ أَسْمَعْهُ

خوشحالي راځي چه د هغهٔ توبه او د توښے لوښے په يو اوښ بانده باروي او هغه روان وي او يو داسے ميدان ته اورسي چه هلته خوراك او اوبهٔ نهٔ وي. او د غرمے وخت وي نو هغه کوز شي او د يوے اونے د لاندے اوده شي. او د هغهٔ د سترګو د پټيدو سره هغه اوښ لاړ شي. دے چه راپاسي نو يو لوړ ځائے ته اوخيژي خو اوښ ميلاؤ نهٔ شي بيا دويم لوړ ځائے ته اوخيژي خو څهٔ او نهٔ ويني بيا دريم لوړ ځائے ته اوخيژي خو څهٔ او نهٔ ويني. بيا واپس هغه ځائے ته راشي چرته چه اوده وو او هلته کيښني. او په دغه وخت ئے هغه اوښ راروان وي راشي تر دے پورے چه خپلے واګے د هغهٔ په لاس کښ ورکړي. پس الله ته د خپل بنده په توبه سره د دے سړي نه زيات خوشحالي وي. هر کله چه هغه خپل اوښ په دے شان اومومي. سماك وائي شعبي وئيلي دي نعمان دا حديث مرفوع کړے دے د رسول الله ﷺ پورے ليکن ما خو د نعمان نه په مرفوع کولو نهٔ دے اوريدلے.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ تَقُولُونَ بِفَرَحِ رَجُلٍ انْفَلَتَتْ مِنْهُ رَاحِلَتُهُ تَجُرُّ زِمَامَهَا بِأَرْضٍ قَفْرٍ لَيْسَ بِهَا طَعَامٌ وَلَا شَرَابٌ وَعَلَيْهَا لَهُ طَعَامٌ وَشَرَابٌ فَطَلَبَهَا حَتَّى شَقَّ عَلَيْهِ ثُمَّ مَرَّتْ بِجِذْلِ شَجَرَةٍ فَتَعَلَّقَ زِمَامُهَا فَوَجَدَهَا مُتَعَلِّقَةً بِهِ قُلْنَا شَدِيدًا يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا وَاللهِ لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنَ الرَّجُلِ بِرَاحِلَتِهِ قَالَ جَعْفَرٌ

د براء بن عازبؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي تاسو څهٔ وايئ د هغه سړي د خوشحالئ په باره کښ چه د هغهٔ نه اوښ اوتښتي او خپلے واګے په ځان پسے راکاږي په يو داسے خوشې ميدان کښ چه هلته نهٔ غله وي او نهٔ اوبهٔ او د هغهٔ خوراك څښاك وغيره هر څهٔ په دغه اوښ بانده وي. پس هغه د هغه اوښ په تلاش کښ ګرځي ګرځي ستړے شي. او هغه اوښ د يو اونے په زيله باندے تيريږي او د هغهٔ واګے په هغه زيله پورې اونخلي. او دغه سړے ئے په هغه زيله پورے نښتلے اومومي. مونږ عرض اوکړو چه يا رسول الله! دغه سړے به ډير زيات خوشحاله شي. حضرت ﷺ اوفرمائيل خبردار شئ! په الله قسم دے چه الله د خپل بنده په توبه

حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ إِيَادٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَهُوَ عَمُّهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِأَرْضِ فَلَاةٍ فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَأَيِسَ مِنْهَا فَأَتَى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِي ظِلِّهَا قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ فَبَيْنَا هُوَ كَذَلِكَ إِذَا هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ

سره دد ے نه هم زيات خوشحاليږی

د انس بن مالك نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل خامخا الله تعالی د خپل بنده په توبه سره هر کله چه هغه توبه اوباسی د هغه سړی نه زيات خوشحاليږی چه هغه د خپلے سورلۍ سره وی په يو هوار بے اوبو او بے غلے ځنګل کښې. او ناڅاپه هغه سورلۍ ترے اوتښتی او د هغۀ خوراك او اوبۀ په هغۀ باندے بار وی آخر هغه سړے نااميده شی او د يوے اونے د سوری لاندے پريوځی او د سورلۍ نه بالکل نااميده شوے وی هغه په دغه حال کښې وی چه ناڅاپه اوبنی نے مخے ته راشی اودريږی او هغه ئے واګے اونيسی. او د ډيرے خوشحالۍ نه په غلطۍ سره اووائی چه يا الله ته څما بنده ئے زۀ ستا رب يم (يعنی وئيل خو داسے پکار وو چه يا الله ته څما رب ئے او زۀ ستا بنده يم خو د ډيرے خوشحالۍ نه ئے د ژبے نه اُلټه داسے اوختل)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ إِذَا اسْتَيْقَظَ عَلَى بَعِيرِهِ قَدْ أَضَلَّهُ بِأَرْضِ فَلَاةٍ

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل الله تعالی ډير خوشحاليږی د خپل بنده په توبه باندے په نسبت د هغه سړی چه هغه د بيداريدو سره خپل اوښ اووينی چه هغه ددۀ نه په يو اوچ ځنګل کښې ورك شوے وی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

حضرت انس د نبی ﷺ نه د پورتنی حديث پشان روايت کړے دے.

بَابُ فَضِيلَةِ الْاسْتِغْفَارِ

باب : د بخښنے غوښتلو فضيلت

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَنَّهُ قَالَ حِينَ حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ كُنْتُ كَتَمْتُ عَنْكُمْ شَيْئًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د ابو ايوب انصاری نه روايت دے وائی چه هر کله د هغوی د وفات وخت نژدے شو نو هغوی اووے ما يو حديث لره چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلے وو ستاسو نه پټ کړے وو (د مصلحت په وجه چه خلق په دے باندے تکيه اونۀ کړی او د ګناه نه بے بېرے نۀ شی) ما د

لَوْلَا أَنَّكُمْ تُذْنِبُونَ لَخَلَقَ اللهُ خَلْقًا يُذْنِبُونَ يَغْفِرُ لَهُمْ

رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو کچرے تاسو ګناه نۀکوئ نو الله تعالى به خامخا داسے مخلوق پيدا کړي چه هغه به ګناه کوي (بيا به مغفرت غواړي) الله تعالى به ئے بخښي.

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَوْ أَنَّكُمْ لَمْ تَكُنْ لَكُمْ ذُنُوبٌ يَغْفِرُهَا اللهُ لَكُمْ لَجَاءَ اللهُ بِقَوْمٍ لَهُمْ ذُنُوبٌ يَغْفِرُهَا لَهُمْ

د ابو ايوب انصاري ؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ اوفرمائيل. کچرے تاسو خلق ګناه نۀ کوئ چه هغے لره الله تعالى اوبخښي ستاسو دپاره نو خامخا الله تعالى به داسے قوم پيدا کړي چه ګناه به کوي بيا الله تعالى به هغوى لره بخښي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللهُ بِكُمْ وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ فَيَسْتَغْفِرُونَ اللهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه زما روح دے. کچرے تاسو ګناه نۀ کوئ نو خامخا به الله تعالى تاسو فنا کړي او داسے خلق به پيدا کړي چه هغه به ګناه کوي. او بيا به د الله نه بخښنه غواړي او الله به ئے بخښي (سبحان الله د مالك په مخکښې د قصور اقرار کول او معذرت او توبه ويستل او معافي غوښتل ځومره ښۀ خبره ده او مالك ته ځومره غوره ده. يو بزرګ وئيلي دي چه هغه ګناه مبارك ده چه د هغے نه پس عذر وي او هغه عبادت سپيرۀ دے چه د هغے نه روستو غرور پيدا شي)

بَابُ فَضْلِ دَوَامِ الذِّكْرِ وَجَوَازِ تَرْكِ ذٰلِكَ

باب : د هر وخت ذکر کولو فضيلت او ددے د پريخودو د جائز کيدو بيان

عَنْ حَنْظَلَةَ الْأُسَيْدِيِّ قَالَ وَكَانَ مِنْ كُتَّابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ كَيْفَ أَنْتَ يَا حَنْظَلَةُ قَالَ قُلْتُ نَافَقَ حَنْظَلَةُ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ مَا تَقُولُ قَالَ قُلْتُ نَكُونُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حنظله أسيدي ؓ نه روايت دے چه هغه د رسول الله ﷺ د ليکونکو نه وو. هغوى وائي چه ابوبکر صديق ؓ زما سره ميلاؤ شو او تپوس ئے اوکړو چه اے حنظله ستا ښۀ حال دے. ما اووے حنظله خو منافق (يعني بے ايمانه) ابوبکر ؓ اووے سبحن الله ! دا ته ښۀ وائے. ما اووے مونږ چه د رسول الله ﷺ سره يو نو حضرت ﷺ مونږ ته د جنت او د

وَسَلَّمَ يُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ حَتَّى كَأَنَّا رَأْيَ عَيْنٍ فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ فَنَسِينَا كَثِيرًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ فَوَاللَّهِ إِنَّا لَنَلْقَى مِثْلَ هَذَا فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ نَافَقَ حَنْظَلَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا ذَاكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ نَكُونُ عِنْدَكَ تُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ حَتَّى كَأَنَّا رَأْيَ عَيْنٍ فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِكَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِينَا كَثِيرًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنْ لَوْ تَدُومُونَ عَلَى مَا تَكُونُونَ عِنْدِي وَفِي الذِّكْرِ لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى فُرُشِكُمْ وَفِي طُرُقِكُمْ وَلَكِنْ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً ثَلَاثَ مَرَّاتٍ

عَنْ حَنْظَلَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَعَظَنَا فَذَكَّرَ النَّارَ قَالَ ثُمَّ جِئْتُ إِلَى الْبَيْتِ فَضَاحَكْتُ الصِّبْيَانَ وَلَاعَبْتُ الْمَرْأَةَ قَالَ فَخَرَجْتُ فَلَقِيتُ أَبَا بَكْرٍ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ وَأَنَا قَدْ فَعَلْتُ

دوزخ یاد راکوی لکه چه دغه دواړه زمونږ د سترګو مخی ته وی نو هر کله چه مونږ هغوی د خوانه لاړ شو نو د بیبیانو او اولاد په مینه او په نور کاروبار کښ مشغول شو نو ډیر زمونږ نه هیر شی. ابوبکرؓ اووے په الله قسم دے خما هم دغه حال دے بیا زهٔ او ابوبکرؓ دواړه لاړو تردے پورے چه رسول الله ﷺ ته اورسیدو. ما عرض اوکړو یا رسول الله! حنظله خو منافق. حضرت ﷺ اوفرمائیل ستا څهٔ مطلب دے؟ ما عرض اوکړو یا رسول الله! مونږ چه ستاسو پخواه کښ یو نو تاسو مونږ ته جنت او دوزخ داسے یادوی لکه چه هغه دواړه زمونږ مخے ته وی. او هر کله چه ستاسو د خوا نه لاړ شو نو د بیبیانو او بچو او په نورو کارونو کښ مشغولیږو. او ډیرے خبرے مو هیرے شی. حضرت ﷺ اوفرمائیل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښ چه خما روح دے. کچرے تاسو همیشه داسے شئ لکه څنګه چه خما په خوا کښ یئ او په یادِ الٰهی کښ مشغول یئ نو خامخا فرښتے به ستاسو سره مصافحه (جوړ پخیر) کوی ستاسو په بسترو باندے او ستاسو په لارو کښ. لیکن اے حنظله یو ساعت ددنیا کاروبار او یو ساعت یاد د پروردګار. درے ځله ئے دا اوفرمائیل[1].

د حنظلهؓ نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو. نو حضرت ﷺ په نصیحت کښ د دوزخ ذکر اوکړو. بیا زهٔ کورته راغلم نو د بچو سره خندا او د بی بی سره مې لوبے اوکړے. بیا زهٔ راااووتم نو ابوبکرؓ راته میلاؤ شو. ما هغوی ته بیان اوکړو هغوی اووے ما هم دغه شان کړی دی. بیا مونږ دواړه د رسول الله ﷺ سره میلاؤ

[1] د حضرت ﷺ د فرمانیلو نه دا معلومه شوه چه دا نفاق نه دے بلکه ددنیا داری لازمه ده. کچرے هر وخت په حضور، کښ صرف شی نو ددنیا ټول کاروبار به معطل شی. پس غفلت هم حکمت دے. بیت ؏

غفلت بجهاں اگر نه بودے　　　از عمر دمے بسر نه بودے

مِثْلَ مَا تَذْكُرُ فَلَقِينَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ نَافَقَ حَنْظَلَةُ فَقَالَ مَهْ فَحَدَّثْتُهُ بِالْحَدِيثِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَأَنَا قَدْ فَعَلْتُ مِثْلَ مَا فَعَلَ فَقَالَ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً وَلَوْ كَانَتْ تَكُونُ قُلُوبُكُمْ كَمَا تَكُونُ عِنْدَ الذِّكْرِ لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُسَلِّمَ عَلَيْكُمْ فِي الطُّرُقِ

شو.ما عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ حنظله خو منافق شو. حضرت ﷺ اوفرمائيل څۀ وائي ما ورته تول حال بيان كړو. ابوبكر اووے ما هم د حنظلهؓ په شان كار كړے نو رسُول الله وفرمائيل يا حنظله يو ساعت د يادو دے او يو ساعت د غفلت دے. كچرے ستاسو زړۀ په دے شان پاتے شي لكه څنگه چه د وعظ په وخت كښې وي. نو فرښتے به ستاسو سره مصافحه كوي. ترد ے پورے چه په لارو كښې به تاسو ته سلام كوي.

عَنْ حَنْظَلَةَ التَّمِيمِيِّ الْأُسَيِّدِيِّ الْكَاتِبِ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَّرَنَا الْجَنَّةَ وَالنَّارَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمَا

د حنظله تيمي أسيدي محررؓ نه روايت دے چه مونږ د نبي ﷺ په خوا كښې وو نو حضرتؐ د جنت او د دوزخ يادونه اوكړه. (مخكښې) د پورتنو حديثونو پشان ئے بيان كړو.

بَابُ سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى

باب : د الله رحمت د غصے نه زيات دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْخَلْقَ كَتَبَ فِي كِتَابِهِ فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ الْعَرْشِ إِنَّ رَحْمَتِي تَغْلِبُ غَضَبِي

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر كله چه الله تعالى مخلوقات جوړ كړل نو په خپل كتاب كښې ئے اوليكل او هغه كتاب د هغۀ سره دے د عرش دپاسه چه څما رحمت به په غضب باندے غالب وي[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ سَبَقَتْ رَحْمَتِي غَضَبِي

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي رسول الله ﷺ اوفرمائيل الله تعالى فرمائي چه څما رحمت څما د غصے نه مخكښې تلے دے (يعني رحمت ترے زيات دے)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَضَى اللهُ الْخَلْقَ كَتَبَ فِي كِتَابِهِ عَلَى نَفْسِهِ فَهُوَ مَوْضُوعٌ عِنْدَهُ إِنَّ رَحْمَتِي تَغْلِبُ غَضَبِي

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. هر كله چه الله تعالى مخلوقات لره جوړ كړل نو پخپل كتاب كښې ئے د خان سره اوليكل. او هغه كتاب ئے د خان سره ايخودے دے چه څما رحمت به غالب وي څما په غصّه باندے.

[1] دد ے حديث نه د جهنميانو مذهب باطليږي او د اهل سنتو مذهب ثابتيږي. چه الله تعالى د عرش دپاسه دے او دا صحيح دے.

عَنْ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ جَعَلَ اللهُ الرَّحْمَةَ مِائَةَ جُزْءٍ فَأَمْسَكَ عِنْدَهُ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ وَأَنْزَلَ فِي الْأَرْضِ جُزْءًا وَاحِدًا فَمِنْ ذَلِكَ الْجُزْءِ تَتَرَاحَمُ الْخَلَائِقُ حَتَّى تَرْفَعَ الدَّابَّةُ حَافِرَهَا عَنْ وَلَدِهَا خَشْيَةَ أَنْ تُصِيبَهُ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. الله تعالی د خپل رحمت سل حصے کړے دی نو یو کم سل حصے ئے د خپل خان سره ایخودی دی او یوه حصه ئے زمکے ته نازله کړے ده. ددغے حصے نه ټول مخلوق په یو بل باندے رحم کوی تر دے پورے چه خناور خپله سُوه (نوك) اوچتوی چه په بچی اونه لګی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَلَقَ اللهُ مِائَةَ رَحْمَةٍ فَوَضَعَ وَاحِدَةً بَيْنَ خَلْقِهِ وَخَبَأَ عِنْدَهُ مِائَةً إِلَّا وَاحِدَةً

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی سل رحمتونه پیدا کړی دی. نو یو ئے د هغے نه خپل مخلوق ته ورکړے دے او یو کم سل ئے د خان سره پټ ایخودی دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ لِلَّهِ مِائَةَ رَحْمَةٍ أَنْزَلَ مِنْهَا رَحْمَةً وَاحِدَةً بَيْنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَالْبَهَائِمِ وَالْهَوَامِّ فَبِهَا يَتَعَاطَفُونَ وَبِهَا يَتَرَاحَمُونَ وَبِهَا تَعْطِفُ الْوَحْشُ عَلَى وَلَدِهَا وَأَخَّرَ اللهُ تِسْعًا وَتِسْعِينَ رَحْمَةً يَرْحَمُ بِهَا عِبَادَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د الله سل رحمتونه دی. د هغوی نه ئے یو رحمت نازل کړے دے په جناتو او بنیادمو او خناورو او چنجو کښې. د هغے یو رحمت د وجے نه په خپلو کښې یو بل ته ورکړه کوی او په یو بل رحم کوی. او هم ددغے رحمت د وجے نه وحشی خناور د خپل بچی سره محبت کوی. او یو کم سل رحمتونه الله پاك روسته کړی چه هغه به په خپلو بندیګانو باندے د قیامت په ورځ کوی.

عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلَّهِ مِائَةَ رَحْمَةٍ فَمِنْهَا رَحْمَةٌ بِهَا يَتَرَاحَمُ الْخَلْقُ بَيْنَهُمْ وَتِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ

د حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بیشکه د الله تعالی سل رحمتونه دی نو د یو رحمت په وجه د الله مخلوق په خپلو کښې په یو بل رحم کوی. او باقی رحمتونه ئے د قیامت د پاره دی.

عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ خَلَقَ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِائَةَ رَحْمَةٍ كُلُّ

د سلمان فارسی رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله چه په کومه ورځ زمکه آسمان جوړ کړل په هغه ورځ ئے سل رحمتونه پیدا کړل. هر یو رحمت ئے دومره لوئے دے لکه څومره

رَحْمَةٍ طِبَاقَ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَجَعَلَ مِنْهَا فِي الْأَرْضِ رَحْمَةً فَبِهَا تَعْطِفُ الْوَالِدَةُ عَلَى وَلَدِهَا وَالْوَحْشُ وَالطَّيْرُ بَعْضُهَا عَلَى بَعْضٍ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أَكْمَلَهَا بِهَذِهِ الرَّحْمَةِ

فاصله چه د زمکې او آسمان په مینځ کښې ده. نو د هغې نه ئې یو رحمت په زمکه کښې اوکړو. چه د هغې په وجه مور د بچي سره محبت کوي او وحشي ځناور او فرښتې د یو بل سره محبت کوي. پس هر کله چه د قیامت ورځ شي نو الله تعالى به هغې لره پوره کړي پخپل رحمت سره.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ قَالَ قَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْيٍ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ تَبْتَغِي إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَرَوْنَ هَذِهِ الْمَرْأَةَ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ قُلْنَا لَا وَاللهِ وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَلهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هَذِهِ بِوَلَدِهَا

د حضرت عمرؓ نه روایت دے چه د رسول اللهﷺ خواله قیدیان راوستلے شو نو یوے ښځې په هغوی کښې لټون کولو د بچي هر کله چه ئې په هغه قیدیانو کښې یو بچے اوموندو نو هغه ئې اوچت کړو او د ګیډے سره ئې اولګولو او پئ ئې ورته ورکړو. رسول اللهﷺ مونږ ته اوفرمائیل ستاسو څۀ خیال دے دا ښځه به خپل بچے اُور ته اوغورځوی. مونږ اووے نه په الله قسم دے چه چرته ئې هم نۀ شي غورځولے. حضرتﷺ اوفرمائیل خامخا الله تعالى په خپلو بندیګانو باندے دا ښځه چه څومره په خپل بچي مهربانه ده دے نه زیات مهربانه دے[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الْعُقُوبَةِ مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهِ أَحَدٌ وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الرَّحْمَةِ مَا قَنَطَ مِنْ جَنَّتِهِ أَحَدٌ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلي دي کچرے مؤمن ته معلومه شوه چه د اللهؓ سره 'کوم' عذاب دے. نو د جنت طمع به هیڅ یو کس هم او نۀ کړي. او کچرے کافر ته معلومه شوه چه د اللهؓ سره 'څومره' رحمت دے نو خامخا د هغوی به د جنت نه یو هم نااميده نۀ شي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لَمْ يَعْمَلْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه یو سړي چرته هم یوه نیکي نۀ وه کړے. هغه چه هر کله مړ کیدو نو

[1] اے زمونږ مالکه دد ے حدیث په اعتماد باندے زمونږ ګته ده ته پخپل رحمت سره مونږ له خلاصے راکړه د جهنم د اُور نه. او د قبر د عذاب نه او اورسوے مونږ جنت ته آمین

حَسَنَةً قَطُّ لِأَهْلِهِ إِذَا مَاتَ فَحَرِّقُوهُ ثُمَّ اذْرُوا نِصْفَهُ فِي الْبَرِّ وَنِصْفَهُ فِي الْبَحْرِ فَوَاللهِ لَئِنْ قَدَرَ اللهُ عَلَيْهِ لَيُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا لَا يُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ فَلَمَّا مَاتَ الرَّجُلُ فَعَلُوا مَا أَمَرَهُمْ فَأَمَرَ اللهُ الْبَرَّ فَجَمَعَ مَا فِيهِ وَأَمَرَ الْبَحْرَ فَجَمَعَ مَا فِيهِ ثُمَّ قَالَ لِمَ فَعَلْتَ هٰذَا قَالَ مِنْ خَشْيَتِكَ يَا رَبِّ وَأَنْتَ أَعْلَمُ فَغَفَرَ اللهُ لَهُ

خپلو خلقو ته ئے اووے ما به اوسيزئ او ايره به مے کړئ بيا به مے نيمه ايره په خنګل کښې والوزوئ او نيمه به درياب ته اوغورځوئ خکه چه په الله قسم دے کچرے الله ما اوموموی نو داسے عذاب به راکړی چه داسے عذاب به ئے په دنيا کښې هيچا ته نۀ وی ورکړے. هر کله چه هغه سړے مړ شو نو وارثانو ئے دغه شان اوکړل الله تعالى خنګل ته حکم اوکړو چه توله ايره راجمع کړه بيائے درياب ته حکم اوکړو چه توله ايره راجمع کړه (او صورت ترے بيا جوړ شو) بيا الله هغه سړی ته اوفرمائيل تا داسے ولے اوکړل؟ هغۀ اووے اے پروردګاره ستا د يرے نه او تۀ ښۀ خبر ئے پس الله هغه اوبخلو[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَسْرَفَ رَجُلٌ عَلَى نَفْسِهِ فَلَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ أَوْصَى بَنِيهِ فَقَالَ إِذَا أَنَا مُتُّ فَأَحْرِقُونِي ثُمَّ اسْحَقُونِي ثُمَّ اذْرُونِي فِي الرِّيحِ فِي الْبَحْرِ فَوَاللهِ لَئِنْ قَدَرَ عَلَيَّ رَبِّي لَيُعَذِّبُنِي عَذَابًا مَا عَذَّبَهُ بِهِ أَحَدًا قَالَ فَفَعَلُوا ذٰلِكَ بِهِ فَقَالَ لِلْأَرْضِ أَدِّي مَا أَخَذْتِ فَإِذَا هُوَ قَائِمٌ فَقَالَ لَهُ مَا حَمَلَكَ عَلَى

د ابوهريره نه روايت دے وائی چه رسول الله فرمائيلی دی چه يو سړی ډير ګناهونه کړی وو. هر کله چه هغه مړ کيدو نو خپل ځوئ ته ئے وصيت اوکړو چه د مرګ نه پس به ما اوسيزے. بيا به مے (ايره) ښۀ ميده کړے او په درياب کښې به ئے په هوا والوزوے. خکه چه په الله قسم دے کچرے الله په ګناه کښې اونيو ما لره نو داسے عذاب به راکړی چه داسے به چا لره ئے نۀ وی ورکړے. د هغۀ خامنو داسے اوکړل الله تعالى زمکے ته اوفرمائيل کومه چه تا ددۀ خاوره اخستے ده هغه جمعه کړه بيا هغه (ښۀ پوره په بدن) اودريدو الله هغۀ ته

[1] نووی وائی دغه سړی ته د الله په قدرت کښې شك نۀ وو خکه چه د الله په قدرت کښې شك کولو والا کافر دے. نو د موندلو نه مراد دعذاب مقدر کول دی يا د قدر معنى تنګ به کړی لکه فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ يا هغه دا کلام په حالت د هيبت او يرے اوکړو. خکه چه د هغۀ حواس ختم شوی وو نو په مثل د غافل او هيرونکی شو. او بعضے وائی دا مجازی دے. ځنے وائی دا سړے د الله د صفاتو نه ناخبره وو او د صفت نه د ناخبره په کفر کښې اختلاف دے. ليکن د صفت نه د منکر په کفر باندے اتفاق دے. او ځنے وائی دا سړے د فطرت د زمانے وو. او د شرع د شروع نه مخکښې تکليف نشته دے. او ځنے وائی کيدے شی چه هغه وخت په شرع کښې د کافر مغفرت جائز وو (انتهى مختصراً)

مَا صَنَعْتَ فَقَالَ خَشْيَتُكَ يَا رَبِّ أَوْ قَالَ مَخَافَتُكَ فَغَفَرَ لَهُ بِذٰلِكَ

اوفرمائیل تا داسے ولے اوکړل؟ هغهٔ اووے اے الله ستا د یرے نه پس الله پاك هغه اوبخښهٔ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ دَخَلَتِ امْرَأَةٌ النَّارَ فِي هِرَّةٍ رَبَطَتْهَا فَلَا هِيَ أَطْعَمَتْهَا وَلَا هِيَ أَرْسَلَتْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتّٰى مَاتَتْ هَزْلًا قَالَ الزُّهْرِيُّ ذٰلِكَ لِئَلَّا يَتَّكِلَ رَجُلٌ وَلَا يَيْأَسَ رَجُلٌ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل یوه ښځه د یوے پیشو په سبب جهنم ته لاړه. چه هغې هغه پیشو تړلے وه. نهٔ ئے ورله خوراك ورکوو او نهٔ ئے پریخوده چه هغې د زمکے چینجی وغیره خوړلے وے. تردے پورې چه مړه شوه. زهری وائی ددے دواړو حدیثونو نه دا معلومه شوه چه انسانه له په خپلو نیکو عملونو مغروره کیدل نهٔ دی پکار. نهٔ د بدو په وجه سره مایوسه کیدل پکار دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ أَسْرَفَ عَبْدٌ عَلٰى نَفْسِهِ بِنَحْوِ حَدِيثِ مَعْمَرٍ إِلٰى قَوْلِهِ فَغَفَرَ اللهُ لَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ حَدِيثَ الْمَرْأَةِ فِي قِصَّةِ الْهِرَّةِ وَفِي حَدِيثِ الزُّبَيْدِيِّ قَالَ فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِكُلِّ شَيْءٍ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا أَدِّ مَا أَخَذْتَ مِنْهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی حضرتﷺ فرمائیل چه یو سړی په خپل ځان زیاتے اوکړو څنګه چه د معمر په حدیث کښې تیر شو. اللهؕ هغهٔ لره اوبخښهٔ او په دے روایت کښې د پیشو قصّه نشته او دا دی چه الله تعالی هر یو ته اووے کوم یو چه ددهٔ د ایرے حصّه اغستے ده هغه داخل کړئ.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَاشَهُ اللهُ مَالًا وَوَلَدًا فَقَالَ لِوَلَدِهِ لَتَفْعَلُنَّ مَا آمُرُكُمْ بِهِ أَوْ لَأُوَلِّيَنَّ مِيرَاثِي غَيْرَكُمْ إِذَا أَنَا مُتُّ فَأَحْرِقُونِي وَأَكْثَرُ عِلْمِي أَنَّهُ قَالَ ثُمَّ اسْحَقُونِي وَاذْرُونِي فِي الرِّيحِ فَإِنِّي لَمْ أَبْتَهِرْ عِنْدَ اللهِ خَيْرًا وَإِنَّ اللهَ يَقْدِرُ عَلَىّٰ أَنْ يُعَذِّبَنِي قَالَ فَأَخَذَ مِنْهُمْ

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے هغه حدیث بیانوؤ د رسول اللهﷺ چه ستاسو نه مخکښې یو سړے وو چه هغهٔ ته الله تعالی مال او اولاد ورکړے وو. هغهٔ خپل اولاد ته اووے. تاسو به هغه کار کوئ د کومے چه زهٔ حکم کوم. ورنه زهٔ د خپل مال وارث بل څوك ګرځوم. هر کله چه زهٔ مړ شم نو ما به اوسیزئ (او ما ته ښه یاد دی، چه دائے هم اووے چه بیا به مے میده کړئ او په هوا کښې به مے والوزوئ: ځکه چه ما د الله سره څهٔ نیکی مخکښې نهٔ ده لیږلے. او کچرے الله تعالی په ما باندے قدرت اومومی نو ما به په عذاب کړی. بیا هغه ددے خبرے اقرار د خپل اولاد نه واخستو. هغوی هم دغه شان اوکړل (هر

53
B

مِيثَاقًا فَفَعَلُوا ذٰلِكَ بِهِ وَرَبِّي فَقَالَ اللهُ مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا فَعَلْتَ فَقَالَ مَخَافَتُكَ قَالَ فَمَا تَلَافَاهُ غَيْرُهَا

عَنْ قَتَادَةَ ذَكَرُوا جَمِيعًا بِإِسْنَادِ شُعْبَةَ نَحْوَ حَدِيثِهِ وَفِي حَدِيثِ شَيْبَانَ وَأَبِي عَوَانَةَ أَنَّ رَجُلًا مِنَ النَّاسِ رَغَسَهُ اللهُ مَالًا وَوَلَدًا وَفِي حَدِيثِ التَّيْمِيِّ فَإِنَّهُ لَمْ يَبْتَئِرْ عِنْدَ اللهِ خَيْرًا قَالَ فَسَّرَهَا قَتَادَةُ لَمْ يَدَّخِرْ عِنْدَ اللهِ خَيْرًا وَفِي حَدِيثِ شَيْبَانَ فَإِنَّهُ وَاللهِ مَا ابْتَأَرَ عِنْدَ اللهِ خَيْرًا وَفِي حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ مَا امْتَأَرَ بِالْمِيمِ

کله چه هغه مړ شي قسم دے خما په رب باندے چه الله تعالی ورته اوفرمائیل تا داسے ولے اوکړل هغهٔ اووے ستا د یرے نه الله تعالی هغهٔ ته نور څهٔ عذاب ورنه کړو.

د قتادهؒ نه د شعبه په اسناد سره تولو راویانو د پورتنی حدیث پشان بیان کړو. او د شیبان او د ابوعوانه په روایت کښ رَاشَهُ اللهُ په ځائے رَغَسَهُ اللهُ دے او تیمی په روایت کښ لَمْ اَبْتَهِرْ په ځائے لَمْ يَبْتَئِرْ دے قتاده دد ے تفسیر لَمْ يَدَّخِرْ سره اوکړو. او د شیبان په حدیث کښ مَا ابْتَأَرَ دے او د ابوعوانه په حدیث کښ مَامْتَأَرَ دے (او معنی ددوی هغه دی کومے چه په پورتنی حدیث کښ تیرے شوے)

بَابُ قَبُولِ التَّوْبَةِ مِنَ الذُّنُوبِ وَإِنْ تَكَرَّرَتِ الذُّنُوبُ وَالتَّوْبَةُ

باب: بار بار گناه کول او بار بار توبه ویستل نو هم توبه قبلیږی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَحْكِي عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ أَذْنَبَ عَبْدٌ ذَنْبًا فَقَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَذْنَبَ عَبْدِي ذَنْبًا فَعَلِمَ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِالذَّنْبِ ثُمَّ عَادَ فَأَذْنَبَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عَبْدِي أَذْنَبَ ذَنْبًا فَعَلِمَ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِالذَّنْبِ ثُمَّ عَادَ فَأَذْنَبَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَذْنَبَ عَبْدِي ذَنْبًا فَعَلِمَ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ د خپل رب نه روایت کړے دے چه یو بنده گناه اوکړه او اوئے وئیل چه یا اللهؐ خما گناه اوبخښے پروردگار اوفرمائیل خمابنده گناه اوکړه هغه پوهه دے چه د دهٔ یو مالك دے چه گناه بخښی او په گناه باندے مواخذه کوی. بیا هغه گناه اوکړه او اوئے وئیلے اے خما مالکه خما گناه اوبخښے پروردگار اوفرمائیل خما بنده یو گناه اوکړه او دے پوهه دے چه ددهٔ یو رب دے چه هغه گناه بخښی او په گناه باندے نیول کوی. بیا هغه گناه اوکړه او اوئے وئیل اے پروردگاره خما گناه اوبخښے. پروردگار اوفرمائیل خما بنده گناه اوکړه او هغه په دے پوهه دے چه د هغهٔ یو پروردگار دے چه هغه گناه بخښی او په گناه باندے نیول کوی اے بنده اوس چه ته څهٔ غواړے عمل کوه ما تا ته بخښنه

الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِالذَّنْبِ اعْمَلْ مَا شِئْتَ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكَ قَالَ عَبْدُ الْأَعْلَى لَا أَدْرِي أَقَالَ فِي الثَّالِثَةِ أَوِ الرَّابِعَةِ اعْمَلْ مَا شِئْتَ

اوکړه. عبد الاعلی وائی چه دا دے حدیث راوی دے. ما ته یاد نهٔ دی چه په دریم ځل یا په څلورم ځل ئے دا اوفرمائیل اوس چه څهٔ غواړے عمل کوه[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ عَبْدًا أَذْنَبَ ذَنْبًا بِمَعْنَى حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ وَذَكَرَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ أَذْنَبَ ذَنْبًا وَفِي الثَّالِثَةِ قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِي فَلْيَعْمَلْ مَا شَاءَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی هغوی فرمائیل. یو سړی گناه اوکړه. (مخکښنی مضمون) د ابوسلمه د حدیث پشان. او درے ځله ئے ذکر اوکړو چه هغهٔ گناه اوکړه او په دریم ځل ئے اوفرمائیل چه ما خپل بنده اوبخښهٔ اوس چه څهٔ غواړی هغه عمل د کوی.

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی بیشکه الله عزت او بزرگئ والا خپل لاس ونه خوروی د شپے دا دے دپاره چه د ورځے گنهگار توبه اوباسی او د ورځے لاس خوره وی دا دے دپاره چه د شپے گنهگار توبه اوباسی تر دے پوری چه نمر را اوخیژی د مغرب نه[2].

بَابُ غَيْرَةِ اللَّهِ تَعَالَى وَتَحْرِيمِ الْفَوَاحِشِ

باب: د الله تعالی د غیرت بیان

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنَ اللَّهِ مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ مَدَحَ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی د چا صفت کول دومره غوره نهٔ دی څومره چه د الله صفت غوره دے (ولے چه هغه د صفت لائق دے او په نورو تولو کښ عیبونه موجود

---

[1] نوویؒ وائی دا دے حدیث نه دا معلومه شوه چه که سل ځله گناه اوکړی یا زر ځله نو د هغهٔ توبه قبوله ده او گناه ئے معاف کیږی. او که د ټولو گناهونو دپاره یوه توبه اوباسی نو هم صحیح ده. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه اوس ته څهٔ غواړے عمل کوه. دا دے مطلب دا دے چه د کومے پورے ته د گناه نه پس توبه کوے نو زهٔ به ئے قبلوم

[2] هغه وخت به د توبے دروازه بنده شی لاس خورول پخپله ظاهری معنی باندے محمول دی لکه نور د الهی صفتونه چه د هغے ذکر پورته تیر شوے دے او کیفیت د هغهٔ د لاس خورولو مجهول دی لکه چه د هغهٔ د ذات کیفیت مجهول دے او تاویل والا وائی چه د لاس خورولو نه توبه قبلول مراد دی. نوویؒ وائی دا مجاز دے خکه چه د جارحه لاس لکه څنګه چه زمونږ لاس دے د غوښے او پوستکی او رګونو دا محال دے د الله تعالی په ذات کښ. انتهی

نَفْسَهُ وَلَيْسَ أَحَدٌ أَغْيَرَ مِنَ اللهِ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ

دی نو د صفت لائق نه دی د دے وجے نه الله تعالیٰ پخپله د خان صفت کړے دے او څوك د الله نه زیات غیرتمند نشته دے د دے وجے نه هغه بدو کارونو لره حرام کړی دی که پټ وی یا ښکاره

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أَحَدٌ أَغْيَرَ مِنَ اللهِ وَلِذٰلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنَ اللهِ تَعَالَى

د عبد الله نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل د الله تعالیٰ نه زیات څوك غیرتمند نشته دے د دے وجے نه الله د بے حیایے خبرے حرامے کړے دی که ښکاره وی یا پټے. او بل چا ته د الله نه زیات خپل تعریف خوښ نه دے.

عَنْ أَبِي وَائِلٍ يَقُولُ سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ قُلْتُ لَهُ آنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ نَعَمْ وَرَفَعَهُ أَنَّهُ قَالَ لَا أَحَدٌ أَغْيَرَ مِنَ اللهِ وَلِذٰلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنَ اللهِ وَلِذٰلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ

ابووائل وئیلی دی چه ما اوریدلی دی عبد الله بن مسعود وئیل راوی وائی ما د ابووائل نه تپوس اوکړو تاسو پخپله د عبد الله بن مسعود نه اوریدلی دی هغوی اووے آو لوئے وئیل چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د الله تعالیٰ نه زیات څوك غیرتمند نشته دے وجه نه خو الله بدکاری حرامه کړے ده که ښکاره وی یا پټه او بل چا ته صفت دومره خوښ نه دے څومره چه الله ته دے د دے وجے نه هغهٔ خپل تعریف اوکړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ وَلَيْسَ أَحَدٌ أَغْيَرَ مِنَ اللهِ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ وَلَيْسَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللهِ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ أَنْزَلَ الْكِتَابَ وَأَرْسَلَ الرُّسُلَ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل د الله عزوجل نه زیات چا ته خپل صفت خوښ نه دے، د دے وجے نه ئے خپل صفت اوفرمائیلو او د الله نه څوك زیات غیرتمند نه دے، د دے وجے هغهٔ بے حیائی حرامه کړے ده. او د الله نه زیات چا ته عذر کول خوښ نه دی (یعنی الله ته دا ډیر خوښ دی چه ګنهګار بندیګان دهٔ ته عذر اوکړی یعنی د خپلو ګناهونو معافی اوغواړی) د دے وجے نه هغهٔ کتاب نازل کړو او پیغمبر ئے راولیږهٔ (او د توبے تعلیم ئے ورکړو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ يَغَارُ وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَغَارُ وَغَيْرَةُ اللهِ أَنْ يَأْتِيَ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله غیرت کوی او مؤمن هم غیرت کوی او الله ته په دے کښې غیرت

الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ عَلَيْهِ قَالَ يَحْيَى وَحَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَتْهُ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لَيْسَ شَيْءٌ أَغْيَرَ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

راځي چه مومن هغه كار اوكړي كوم چه الله په هغهٔ باندے حرام كړے وي. د اسماء بنت ابی بکرؓ نه روايت دے چه هغوی د رسول الله ﷺ نه دا اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو. هيڅ يو شے د الله تعالی نه زيات غيرتمند نهٔ دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ رِوَايَةِ حَجَّاجٍ حَدِيثَ أَبِي هُرَيْرَةَ خَاصَّةً وَلَمْ يَذْكُرْ حَدِيثَ أَسْمَاءَ

ابوهريرهؓ د رسول الله ﷺ نه دغسے حديث روايت كړو څنگه چه د حجاج د ابوهريرهؓ نه دے مگر په دے كښ د اسماء د حديث ذكر نشته دے.

عَنْ أَسْمَاءَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ لَا شَيْءَ أَغْيَرُ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

د اسماءؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ اوفرمائيل. د الله تعالی نه زيات هيڅ څيز غيرتمند نشته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ يَغَارُ وَاللهُ أَشَدُّ غَيْرًا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ اوفرمائيل. مومن غيرت كوی د مومن دپاره او الله تعالی د ټولو نه زيات غيرتمند دے.

عَنِ الْعَلَاءِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د علاء نه هم په دے اسناد سره روايت دے.

بَاب قَوْلِهِ تَعَالَى إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ

باب: د الله تعالی ارشاد چه نيكئ گناهونو لره ختموی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَجُلًا أَصَابَ مِنِ امْرَأَةٍ قُبْلَةً فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ قَالَ فَنَزَلَتْ أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ قَالَ فَقَالَ الرَّجُلُ أَلِيَ هَذِهِ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِي

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے چه يو سړی يوه ښځه ښكل كړه. بيا د رسول الله ﷺ خواله راغے او هغوی ته ئے بيان اوكړو. پس دا ايت نازل شو: أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ د آخره پورے يعنی قائم كړئ مونځ د ورځے په دواړو طرفونو او د شپے په ساعت كښ. بيشكه نيكئ لرے كوی بدو لره، دا د قبلونكو دپاره نصيحت دے. هغه سړی اووے يا رسول الله! دا خما دپاره دے. حضرت ﷺ اوفرمائيل نه هر څوك چه په دے عمل كوی خما د امت نه (نو د نيكو نه مراد په دے ايت كښ مونځ دے. او مجاهدؒ وئيلی دی هغه دا كلمه ده. سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ (نووی)

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَنَّهُ أَصَابَ مِنَ امْرَأَةٍ إِمَّا قُبْلَةً أَوْ مَسًّا بِيَدٍ أَوْ شَيْئًا كَأَنَّهُ يَسْأَلُ عَنْ كَفَّارَتِهَا قَالَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يَزِيدَ

د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړے د نبی ﷺ خواله راغے او اوئے وئیل چه هغهٔ یو ښځه ښکل کړے ده په لاس سره ئے مسه کړے ده یا څهٔ بل څهٔ ئے کړی دی هغهٔ د هغے کفاره اوتپوسله نو الله تعالی دا ایت نازل کړو. مخکښې د پورتنی حدیث پشان بیان کړو.

عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ أَصَابَ رَجُلٌ مِنَ امْرَأَةٍ شَيْئًا دُونَ الْفَاحِشَةِ فَأَتَى عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَعَظَّمَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَتَى أَبَا بَكْرٍ فَعَظَّمَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يَزِيدَ وَالْمُعْتَمِرِ

د سلیمان تیمی رحمه الله نه په دے اسناد سره روایت دے. په دے کښې دادی چه یو سړے یوے ښځے ته اورسیدهٔ په تولو خبرو کښې سوا د زنا نه هغه د حضرت عمر رضی الله عنه خواله راغے. هغوی ته هم دا لوئی کار معلوم شو. بیا د ابوبکر رضی الله عنه خواله راغے. هغوی ته دا خبره لویه ښکاره شوه. بیا د رسول الله ﷺ خواله راغے. بیائے بیان کړو هغه شان څنګه چه پورته تیر شو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي عَالَجْتُ امْرَأَةً فِي أَقْصَى الْمَدِينَةِ وَإِنِّي أَصَبْتُ مِنْهَا مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا فَأَنَا هَذَا فَاقْضِ فِيَّ مَا شِئْتَ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ لَقَدْ سَتَرَكَ اللهُ لَوْ سَتَرْتَ نَفْسَكَ قَالَ فَلَمْ يَرُدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَقَامَ الرَّجُلُ فَانْطَلَقَ فَأَتْبَعَهُ النَّبِيُّ ﷺ رَجُلًا دَعَاهُ وَتَلَا عَلَيْهِ هَذِهِ الْآيَةَ أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ يَا نَبِيَّ اللهِ هَذَا لَهُ خَاصَّةً قَالَ بَلْ لِلنَّاسِ كَافَّةً

د عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ما د یو ښځی نه د مدینے نه لرے مزه واخسته او سوا د جماع نه مے ورسره تولے خبرے اوکړے. اوس زهٔ حاضر یم څهٔ چه غواړے خما په باب کښې حکم اوکړئ. حضرت عمر رضی الله عنه ورته اووے. الله ستا ګناه پټه کړه کچرے تا هم پټه کړے وے نو ښه به وه. رسول الله ﷺ څهٔ جواب ورنکړو. پس هغه سړے اودریدو او لاړو. حضرت ﷺ په هغهٔ پسے روستو یو سړے اولیږو او رااوئے غوښتو او دا ایت ئے ورته اولوستو: أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ. یو سړی اووے یا رسول الله دا حکم خاص دے خما دپاره یا زمونږ د تولو دپاره دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل نا د تولو خلقو دپاره دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ أَبِي الْأَحْوَصِ وَقَالَ فِي حَدِيثِهِ فَقَالَ مُعَاذٌ يَا رَسُولَ اللهِ هٰذَا لِهٰذَا خَاصَّةً أَوْ لَنَا عَامَّةً قَالَ بَلْ لَكُمْ عَامَّةً

د عبد اللهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ د ابوالاحوص د حدیث پشان اوفرمائیلو. او په دے کښې دی چه معاذ عرض اوکړو یا رسول اللهؐ! دا حکم خاص ددهٔ دپاره دے یا زمونږ د ټولو دپاره دے. حضرتﷺ اوفرمائیل. نا د ټولو دپاره دے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ قَالَ وَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْ فِيَّ كِتَابَ اللهِ قَالَ هَلْ حَضَرْتَ الصَّلَاةَ مَعَنَا قَالَ نَعَمْ قَالَ قَدْ غُفِرَ لَكَ

د انسؓ نه روایت دے وائی چه یو سړے د رسول اللهﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه یا رسول اللهؐ ما د حد کار کړے دے نو په ما باندے حد قائم کړه. او د مونځ وخت راغلے وو. بیا هغه د رسول اللهﷺ سره مونځ اوکړو. هر کله چه مونځ ئے اوکړو نو عرض ئے اوکړو چه یا رسول اللهؐ ما د حد کار کړے دے د الله تعالیٰ د کتاب موافق په ما حد جاری کړئ. حضرتﷺ اوفرمائیل ته په مانځهٔ کښې زمونږ سره وے. هغهٔ اووے آو. حضرتﷺ اوفرمائیل. الله ستا خطا معاف کړه.

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَنَحْنُ قُعُودٌ مَعَهُ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ فَسَكَتَ عَنْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ أَعَادَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ فَسَكَتَ عَنْهُ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَمَّا انْصَرَفَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُو أُمَامَةَ فَاتَّبَعَ الرَّجُلُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ انْصَرَفَ وَاتَّبَعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْظُرُ مَا يَرُدُّ عَلَى الرَّجُلِ فَلَحِقَ الرَّجُلُ

د ابو امامهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ په جماعت کښې وو او مونږ هم د هغوی سره ناست وو. په دے کښې یو سړے راغے او اوئے وئیل یا رسول اللهؐ! ځما نه د حد کار شوے دے نو په ما باندے حد جاری کړئ. رسول اللهﷺ دد دے خبرے په اریدو چپ پاتے شو. هغهٔ بیا اووے اے د الله رسولهؐ! ما د حد کار کړے دے تاسو په ما باندے حد اولګوئ. حضرتﷺ بیا چپ پاتے شو. هغهٔ په دریم ځل دغه شان اووے. او په دے کښې جمع د مانځهٔ تیاره شوه یعنی اودریدهٔ. هر کله چه حضرتؐ د مانځهٔ نه فارغ شو نو هغه سړے په رسول اللهؐ پسے روان شو او زهٔ هم په حضرتؐ پسے روستو دد دے دپاره روان شوم چه حضرتؐ به دے سړی ته څهٔ جواب ورکوی. بیا هغه سړے د

رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ قَالَ أَبُوْ أُمَامَةَ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَرَأَيْتَ حِيْنَ خَرَجْتَ مِنْ بَيْتِكَ أَلَيْسَ قَدْ تَوَضَّأْتَ فَأَحْسَنْتَ الْوُضُوْءَ قَالَ بَلَى يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ثُمَّ شَهِدْتَ الصَّلَاةَ مَعَنَا فَقَالَ نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَإِنَّ اللهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ حَدَّكَ أَوْ قَالَ ذَنْبَكَ

رسول الله ﷺ سره ميلاو شو او عرض ئے اوکړو چه يا رسول الله! ما د حد کار کړے دے نو په ما باندے حد اولګوئ. ابو امامه وائی رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل څهٔ وخت چه تهٔ د خپل کوره راوتے نو تا په ښهٔ شان سره اودس نهٔ وو کړے. هغهٔ اووے ولے نه يا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائيل بيا تا زمونږ سره مونځ اوکړو. هغهٔ اووے آو يا رسول الله. حضرت ﷺ اوفرمائيل پس الله بخښلے دے ستا حد لره يا ستا ګناه لره.

بَابُ قَبُوْلِ تَوْبَةِ الْقَاتِلِ

باب: د قاتل توبه قبليږی

عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ فِيْمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ نَفْسًا فَسَأَلَ عَنْ أَعْلَمِ أَهْلِ الْأَرْضِ فَدُلَّ عَلَى رَاهِبٍ فَأَتَاهُ فَقَالَ إِنَّهُ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ نَفْسًا فَهَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ فَقَالَ لَا فَقَتَلَهُ فَكَمَّلَ بِهِ مِائَةً ثُمَّ سَأَلَ عَنْ أَعْلَمِ أَهْلِ الْأَرْضِ فَدُلَّ عَلَى رَجُلٍ عَالِمٍ فَقَالَ إِنَّهُ قَتَلَ مِائَةَ نَفْسٍ فَهَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ فَقَالَ نَعَمْ وَمَنْ يَحُوْلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ التَّوْبَةِ انْطَلِقْ إِلَى أَرْضِ كَذَا وَكَذَا فَإِنَّ بِهَا أُنَاسًا يَعْبُدُوْنَ اللهَ فَاعْبُدِ اللهَ مَعَهُمْ وَلَا تَرْجِعْ إِلَى أَرْضِكَ فَإِنَّهَا أَرْضُ سَوْءٍ فَانْطَلَقَ حَتَّى إِذَا نَصَفَ الطَّرِيْقَ أَتَاهُ الْمَوْتُ فَاخْتَصَمَتْ فِيْهِ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلَائِكَةُ الْعَذَابِ فَقَالَتْ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ

د ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی ستاسو نه مخکښې يو سړے وو چه هغه يو کم سل مړګونه کړی وو. هغهٔ تپوس کولو چه په زمکه کښې د ټولو نه زيات عالم څوك دے؟ خلقو ورته يو راهب اوخودلو (يعنی د نصاراو پادری) هغه راهب ته ئے اووے ما يو کم سل قتلونه کړی دی چه څما توبه به قبوله شی يا نهٔ. راهب اووے ستا توبه نهٔ قبليږی. هغهٔ هغه راهب اووژلو او پوره سل قتلونه ئے برابر شو. بيا هغه د خلقو نه تپوس اوکړو چه د ټولو نه زيات په زمکه کښې څوك عالم دے؟ خلقو ورته يو عالم اوښودو په هغهٔ پسے لاړو او ورته ئے اووے چه ما سل قتلونه کړی دی. څما توبه قبليدے شی يا نه؟ هغهٔ ورته اووے آو قبليدے شی او د توبے ويستلو نه کوم يو څيز مانع دے. خو تهٔ فلانی ملك ته لاړ شه هلته څهٔ خلق دی چه د الله تعالی عبادت کوی تهٔ هم لاړ شه د هغوی سره عبادت کوه او خپل ملك ته مهٔ څه هغه بد ملك دے. پس هغه هم هغه ملك ته روان شو. هر کله چه نيمے لارے ته اورسيدهٔ نو مرګ ورته راغے. اوس د عذاب د فرښتو او د رحمت د فرښتو په مينځ

جَاءَ تَائِبًا مُقْبِلًا بِقَلْبِهِ إِلَى اللهِ وَقَالَتْ مَلَائِكَةُ الْعَذَابِ إِنَّهُ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ فَأَتَاهُمْ مَلَكٌ فِي صُورَةِ آدَمِيٍّ فَجَعَلُوهُ بَيْنَهُمْ فَقَالَ قِيسُوا مَا بَيْنَ الْأَرْضَيْنِ فَإِلَى أَيَّتِهِمَا كَانَ أَدْنَى فَهُوَ لَهُ فَقَاسُوهُ فَوَجَدُوهُ أَدْنَى إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي أَرَادَ فَقَبَضَتْهُ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ قَالَ قَتَادَةُ فَقَالَ الْحَسَنُ ذُكِرَ لَنَا أَنَّهُ لَمَّا أَتَاهُ الْمَوْتُ نَأَى بِصَدْرِهِ

کښې جهګړه شوه او د الله طرفته متوجه روان وو. د عذاب فرښتو اووے دهٔ هیڅ نیکی نهٔ ده کړې. آخر یوه فرښته د بنیادم په شکل راغله او دغه فرښتو هغه د فیصلے کولو دپاره مقرر کړه. هغهٔ اووے ددواړو ملکونو پورے فاصله ناپ کړئ. نو کوم ملك ته چه نژدے شوے وو د هغے به وی. چه ناپ ئے کړو نو هغه ملك ته نژدے شوے وو کوم ته چه ئے اراده لرله آخر د رحمت فرښتو یوړلو. قتاده وائی چه حسن وئیلی دی مونږ ته خلقو اووے چه هر کله هغه مړ کیدو نو په سینه باندے به خوئیدو (ددے دپاره چه هغه ملك ته نژدے شی)[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّ رَجُلًا قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ نَفْسًا فَجَعَلَ يَسْأَلُ هَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ فَأَتَى رَاهِبًا فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَيْسَتْ لَكَ تَوْبَةٌ فَقَتَلَ الرَّاهِبَ ثُمَّ جَعَلَ يَسْأَلُ ثُمَّ خَرَجَ مِنْ قَرْيَةٍ إِلَى قَرْيَةٍ فِيهَا قَوْمٌ صَالِحُونَ فَلَمَّا كَانَ فِي بَعْضِ الطَّرِيقِ أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَنَأَى بِصَدْرِهِ ثُمَّ مَاتَ فَاخْتَصَمَتْ فِيهِ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلَائِكَةُ الْعَذَابِ فَكَانَ إِلَى الْقَرْيَةِ الصَّالِحَةِ أَقْرَبَ مِنْهَا بِشِبْرٍ فَجُعِلَ مِنْ أَهْلِهَا

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یو سړی یو کم سل کسان قتل کړل بیا تپوس اوکړو چه څما توبه صحیح کیدے شی. آخر د یو راهب خواله راغے او د هغهٔ نه ئے تپوس اوکړو. هغهٔ اووے ستا توبه صحیح نهٔ ده. پس هغه راهب ئے هم مړ کړو. بیا ئے تپوسونه کول او د یو کلی نه د بل کلی په طرف روان شو چرته چه نیکان خلق اوسیدل. په لار کښې هغهٔ ته مرګ راغے او خپله سینه ئے ور اوړده کړه او مړ شو. بیا جهګړه اوکړه په دے کښې د رحمت فرښتو او د عذاب فرښتو. لیکن هغه د ښو خلقو طرفته نژدے اوختو نو د هغه خلقو نه حساب شو.

---

[1] نووی وائی د اهل علم دا مذهب دے او په دے باندے اجماع ده چه د عمداً قتل کونکی توبه قبوله ده. او د چا اختلاف په دے کښې نشته دے. علاوه د ابن عباس نه او د ځنې سلفو نه چه کوم منقول دی چه توبه ئے نهٔ قبلیږی دا زجراً ددے دپاره چه خلق قتلونه نهٔ کوی. او کوم چه په قرآن کښې دی فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا ددے نه د توبے بطلان نهٔ را اوځی ځکه چه د ایت مضمون دا دے چه د قتل عمد دا سزاء ده. اوس کهٔ د الله خوښه شی سزاء به ورکړی او کهٔ خوښه ئ شی معاف به ئے کړی. البته کچرے قتل حلال ګڼړی نو کافر دے همیشه به په جهنم کښې وی په اجماع سره او ځنې وائی چه په ایت کښې د همیشه اوسیدو نه د ډیر وخته پورے اوسیدل مراد دی او دا تاویل ضعیف دے. او ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه توبه تائب لره هغه ځائې پریښودل غوره دی چرته چه پکښې د ګناه عادت راغلے وی او د خیر د خاوندانو په مجلس کښې اوسیدل غوره دی (انتهی مختصراً)

عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ مُعَاذِ بْنِ مُعَاذٍ وَزَادَ فِيهِ فَأَوْحَى اللهُ إِلٰى هٰذِهِ أَنْ تَبَاعَدِي وَإِلٰى هٰذِهِ أَنْ تَقَرَّبِي

د قتادهؓ نه په دے اسناد سره (پورتنے) د معاذ بن معاذ د حدیث پشان روایت دے. په دے کښې دا زیاته ده چه الله تعالی د گناه د زمکے طرفته حکم اولیږلو چه لرے شه او د عبادت زمکے ته حکم اوشو چه نژدے شه[1].

بَابُ فِدَاءِ الْمُسْلِمِينَ بِالْكُفْرِينَ

باب: د مسلمانانو فدیه به کافران وی

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ دَفَعَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا فَيَقُولُ هٰذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه د قیامت ورځ شی نو الله تعالی به هر مسلمان ته یو یهودی یا نصرانی ورکړی. او ورته به اوفرمائي دا ستا پرده د جهنم ده.

عَنْ قَتَادَةَ أَنَّ عَوْنًا وَسَعِيدَ بْنَ أَبِي بُرْدَةَ حَدَّثَاهُ أَنَّهُمَا شَهِدَا أَبَا بُرْدَةَ يُحَدِّثُ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَمُوتُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ إِلَّا أَدْخَلَ اللهُ مَكَانَهُ النَّارَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا قَالَ فَاسْتَحْلَفَهُ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بِاللهِ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَحَلَفَ لَهُ قَالَ فَلَمْ يُحَدِّثْنِي سَعِيدٌ أَنَّهُ اسْتَحْلَفَهُ وَلَمْ يُنْكِرْ عَلٰى

د قتادهؓ نه روایت دے چه عون او سعید بن ابی برده هغه وخت موجود وو هر کله چه ابوبردهؓ عمر بن عبد العزیز ته حدیث بیانولو چه هغه د خپل پلار (ابوموسیٰ اشعریؓ) نه اوریدلی وو چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هیڅ یو مسلمان نه مری مګر الله تعالی یو یهودی یا نصرانی د هغه په ځائے جهنم ته داخلوی. عمر بن عبد العزیزؒ ابوبرده له د الله واحد درے قسمونه ورکړل چه ددوی پلار دوی ته دا حدیث روایت کړے بیان کړے دے. نو هغوی قسم اوخوړو. راوی وائی چه سعید دا بیان لو نه کړو چه هغوی قسم اوکړو او د عون د خبرے ئے تردید او نه کړو (عمر بن عبد العزیز ابوبرده له قسم ورکړو د مزید اطمینا دپاره ولے چه په دے حدیث کښې بشارت عظیم دے د مؤمنانو دپاره. شافعیؒ وائی چه

[1] د دے حدیث نه خو ښے فائدے ثابتے شوے. یو دا چه د کبیره ګناه نه توبه ویستل مقبول دی. دویم دا چه د ګناه کولو د ځائے نه هجرت کول مستحب دی. د دے دپاره چه د بدو ملګرو صحبت ئے بیا په ګناه کولو سره اخته نه کړی. دریم دا چه فرښتو ته علم غیب نشته دے. کچرے هغوی ته د غیب علم وے نو د عذاب فرښتو به بحث نه کوو. څلورم دا چه مدعی او مدعا علیه لره په ثالث فیصله صحیح ده. پنځم دا چه د رحمت الهی څه حد نشته دے. دیخوا بنده د زړهٔ په خلوص توبه اوباسی اخوا د هغهٔ رحمت په جوش کښې راشی (تحفة الاخیار)

عَوْنٍ قَوْلَهُ

دده نه مسلمانانو ته لوئی اُمید دے)

عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ عَفَّانَ وَقَالَ عَوْنُ بْنُ عُتْبَةَ

د ابو قتاده نه په دے اسناد سره د پورتنی حدیث پشان روایت دے. په دے کښې عقبه بن عتبه دے.

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ نَاسٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ بِذُنُوبٍ أَمْثَالِ الْجِبَالِ فَيَغْفِرُهَا اللهُ لَهُمْ وَيَضَعُهَا عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى فِيمَا أَحْسِبُ أَنَا قَالَ أَبُو رَوْحٍ لَا أَدْرِي مِمَّنِ الشَّكُّ قَالَ أَبُو بُرْدَةَ فَحَدَّثْتُ بِهِ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَقَالَ أَبُوكَ حَدَّثَكَ هٰذَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قُلْتُ نَعَمْ

د ابوبرده نه روایت دے. چه هغوی اوریدلی دی د خپل پلار (ابوموسی اشعری) نه وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د قیامت په ورځ به د مسلمانانو نه څهٔ خلق د غرونو برابر ګناه راوړی او را به شی الله تعالی به هغوی لره اوبخښی او د هغوی ګناهونو لره به په یهودو او نصاراؤ باندے اوغورځوی[1].

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ مُحْرِزٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عُمَرَ كَيْفَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي النَّجْوَى قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ يُدْنَى الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ حَتَّى يَضَعَ عَلَيْهِ كَنَفَهُ فَيُقَرِّرُهُ بِذُنُوبِهِ فَيَقُولُ هَلْ تَعْرِفُ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَعْرِفُ قَالَ فَإِنِّي قَدْ سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَإِنِّي أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ فَيُعْطَى صَحِيفَةَ

د صفوان بن محرز نه روایت دے وائی چه یو سړی عبد الله بن عمر ته اووے تا د رسول الله ﷺ نه د سرګوشئ په باره کښې څهٔ اوریدلی دی (یعنی الله چه به د قیامت په ورځ د خپل بنده سره سرګوشی کوی) هغوی اووے ما د حضرت ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. مؤمن به د قیامت په ورځ د خپل رب خواله نژدے شی. تردے پورے چه مالك به خپله پرده په هغهٔ باندے کیږدی او د هغهٔ نه به د هغهٔ ګناهونو اقرار واخلی او ورته به اووائی تهٔ پیژنې خپلو ګناهونو لره. هغه به اووائی اے ربه زهٔ پیژنم. پروردګار به ورته اوفرمائی ما

[1] یعنی د هغه ګناهونو په مثل کوم چه یهودو او نصاراؤ ګناهونه کړی دی هغه به نهٔ معاف کیږی او د هغے په وجه به جهنم ته ځی. او دا تاویل ضرور دے ځکه چه الله تعالی فرمائی: وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرَى او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه کافر به د مسلمان خلاصے وی دد مطلب دادے چه هر کله یو مسلمان جنت ته لاړ شی نو یو کافر به جهنم ته لاړ شی. دد دپاره چه د جهنم ډك شی او د هغے د خلقو شمار پوره شی. دا مختصر ده د امام نووی د کلام او ظاهر حدیث دادے چه کافر به د مسلمان فدیه جوړیږی. او الله تعالی به مسلمانان بخښی او کافران به جهنم ته غورځوی. او دا د آیت خلاف نهٔ دی ځکه چه کافر خو د خپلو اعمالو په وجه سره جهنمی شوے وو او اوس په دوی باندے نور بوجهـ غورځول په حقیقت کښې بوجهـ نهٔ دے. مشهور مثل دے چه "آبِ چو از سر گذشت، چه یك نیزه و چه یك دست".

حَسَنَاتِهِ وَأَمَّا الْكُفَّارُ وَالْمُنَافِقُوْنَ فَيُنَادٰى بِهِمْ عَلٰى رُءُوْسِ الْخَلَائِقِ هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ

پټ کړی وو دے ګناهونو لره پټا باندے په دنیا کښ او اوس ئے زۀ بخښم نن ورځ ستا دپاره. بیا به ورته هغه د نیکو کتاب ورکړے شی او د کافرو او د منافقانو دپاره خو به د مخلوقاتو په مخکښ آواز اوشی چه دا هغه خلق دی چا چه به دروغ وئیل په الله باندے

بَابُ حَدِيْثِ تَوْبَةِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَصَاحِبَيْهِ

باب : د کعب بن مالك او د هغوی د دواړو ملګرو د توبے بیان

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ ثُمَّ غَزَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ تَبُوْكَ وَهُوَ يُرِيْدُ الرُّوْمَ وَنَصَارَى الْعَرَبِ بِالشَّامِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِيْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ كَعْبٍ كَانَ قَائِدَ كَعْبٍ مِنْ بَنِيْهِ حِيْنَ عَمِيَ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُ حَدِيْثَهُ حِيْنَ تَخَلَّفَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ قَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ لَمْ أَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةٍ غَزَاهَا قَطُّ إِلَّا فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ غَيْرَ أَنِّيْ قَدْ تَخَلَّفْتُ فِيْ غَزْوَةِ بَدْرٍ وَلَمْ يُعَاتِبْ أَحَدًا تَخَلَّفَ عَنْهُ إِنَّمَا خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُوْنَ يُرِيْدُوْنَ عِيْرَ قُرَيْشٍ حَتّٰى جَمَعَ اللّٰهُ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ عَدُوِّهِمْ عَلٰى غَيْرِ مِيْعَادٍ وَلَقَدْ شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ

د ابن شهابؒ نه روایت دے وائی چه بیا رسول الله ﷺ د تبوك جهاد اوکړو (تبوك د یو مقام نوم دے د مدینے نه پنځلس منزله لرے د شام په لاره کښ) او د حضرت ﷺ اراده وه د روم او عرب نصاراؤ لره د دهمکاوولو په شام کښ. ابن شهاب وائی ما ته بیان کړے دے عبد الرّحمٰن بن عبد الله بن کعب بن مالك هغو ته بیان کړے دے عبد الله بن کعب چه هغه به کعب لره نیولے ګرځولو د هغوی د ځامنو نه هر کله چه کعب ړوند شوے وو. هغوی وائی ما اوریدلی دی د کعب بن مالكؓ نه هغه خپل حال بیانولو هر کله چه روستو پاتے شوے وو د رسول الله ﷺ نه د تبوك په غزا کښ کعب بن ملك وائی زۀ په هیڅ یو جهاد کښ د رسول الله ﷺ نه روستو پاتے شوے نۀ یم سوا د تبوك د جهاد نه خامخا په بدر کښ روستو پاتے شوے وم خو حضرت ﷺ په هیچا باندے غصه نۀ وه کړے کوم چه روستو پاتے شوی و. او په بدر کښ خو حضرت ﷺ د مسلمانانو سره د قریشو د قافلے د لوټ کولو دپاره وتلے وو. لیکن الله تعالی مسلمانانو لره د هغوی د دشمنانو سره مخامخ کړل (او قافله اووته) بے وخته او زۀ د رسول الله ﷺ سره موجود وم په لیلة القبه کښ (لیلة العقبه هغه شپه ده کله چه حضرت ﷺ د انصارو نه په اسلام باندے بیعت اخستے وو

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ حِينَ تَوَاثَقْنَا عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَا أُحِبُّ أَنَّ لِي بِهَا مَشْهَدَ بَدْرٍ وَإِنْ كَانَتْ بَدْرٌ أَذْكَرَ فِي النَّاسِ مِنْهَا وَكَانَ مِنْ خَبَرِي حِينَ تَخَلَّفْتُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ أَنِّي لَمْ أَكُنْ قَطُّ أَقْوَى وَلَا أَيْسَرَ مِنِّي حِينَ تَخَلَّفْتُ عَنْهُ فِي تِلْكَ الْغَزْوَةِ وَاللهِ مَا جَمَعْتُ قَبْلَهَا رَاحِلَتَيْنِ قَطُّ حَتَّى جَمَعْتُهُمَا فِي تِلْكَ الْغَزْوَةِ فَغَزَاهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ وَاسْتَقْبَلَ سَفَرًا بَعِيدًا وَمَفَازًا وَاسْتَقْبَلَ عَدُوًّا كَثِيرًا فَجَلَا لِلْمُسْلِمِينَ أَمْرَهُمْ لِيَتَأَهَّبُوا أُهْبَةَ غَزْوِهِمْ فَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِمُ الَّذِي يُرِيدُ وَالْمُسْلِمُونَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيرٌ وَلَا يَجْمَعُهُمْ كِتَابُ حَافِظٍ يُرِيدُ بِذَلِكَ الدِّيوَانَ قَالَ كَعْبٌ فَقَلَّ رَجُلٌ يُرِيدُ أَنْ يَتَغَيَّبَ يَظُنُّ أَنَّ ذَلِكَ سَيَخْفَى لَهُ مَا لَمْ يَنْزِلْ فِيهِ وَحْيٌ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَغَزَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْغَزْوَةَ حِينَ طَابَتِ الثِّمَارُ وَالظِّلَالُ فَأَنَا إِلَيْهَا أَصْعَرُ فَتَجَهَّزَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُونَ مَعَهُ وَطَفِقْتُ أَغْدُو لِكَيْ

او د حضرتؐ په مدد کولو باندے او دا بیعت په منیٰ کښې د جمره عقبه په خواه کښې دوباره اوشو په رومبی کښې دولس انصار وو. او په دویم کښې اویا انصار وو) او ما نهٔ غوښتله چه ددغه شپې په بدل کښې په جنګ بدر کښې شریك شوے وے اګر چه جنګ بدر په خلقو کښې د هغه شپې نه زیات مشهور دے (یعنی خلق هغې ته افضل وائی) او خما قصه د غزوهٔ تبوك نه د روستو پاتے کیدو داده. چه هر کله دا غزا اوشوه نو زهٔ د ټولو خلقو نه زیات طاقت والا مالدار وم. په اللهؐ قسم دے چه ددے نه مخکښې خما سره دوه اوښانے چرته هم نهٔ وے. او ددے جنګ په وخت خما سره دوه اوښې وے. حضرتﷺ ددے جنګ دپاره د سختې ګرمۍ په ورځو کښې روان شو. او سفر هم اوږد وو او په لاره کښې ځنګل وو (ډیر لوئے چه په هغې کښې اوبهٔ هم کمې وے او د هلاکت یره هم وه) او مقابله وه د ډیرو د شمانو سره ځکه حضرتﷺ مسلمانانو ته واضح اوفرمائیل چه زهٔ دے جنګ له ځم (حالانکه د حضرتؐ دا عادت مبارك وو چه په نورو جنګونو کښې به ئے خپله اراده د مصلحت په وجه صفا نهٔ فرمائیله ددے دپاره چه خبره مشهوره نهٔ شی) ځکه چه هغه خپله تیاری اوکړی. بیا ئے هغوی ته اووے چه په فلانی طرف به دوی ته تلل پریوځی. دغه وخت د حضرتﷺ سره ډیر مسلمانان وو. او هیڅ یو دفتر نهٔ وو چه په هغې کښې ئے د هغوی نومونه لیکلی وے. خو داسې سړی کم وو چه پټیدل ئے غوښتل او ګمان ئے کوو چه دا خبره به پټه پاتے شی د کومې پورے چه د الله د طرفه څهٔ وحی نهٔ وی راغلی. او دا جهاد رسول اللهﷺ د میوو د پخیدو په وخت کړے وو چه سورې ښه یخ وو. او ما ته د هغه ځیزونو ډیر شوق وو. آخر رسول اللهﷺ تیاری

أَتَجَهَّزَ مَعَهُمْ فَأَرْجِعُ وَلَمْ أَقْضِ شَيْئًا وَأَقُولُ فِي نَفْسِي أَنَا قَادِرٌ عَلَى ذٰلِكَ إِذَا أَرَدْتُ فَلَمْ يَزَلْ ذٰلِكَ يَتَمَادَى بِي حَتَّى اسْتَمَرَّ بِالنَّاسِ الْجِدُّ فَأَصْبَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَادِيًا وَالْمُسْلِمُونَ مَعَهُ وَلَمْ أَقْضِ مِنْ جَهَازِي شَيْئًا ثُمَّ غَدَوْتُ فَرَجَعْتُ وَلَمْ أَقْضِ شَيْئًا فَلَمْ يَزَلْ ذٰلِكَ يَتَمَادَى بِي حَتَّى أَسْرَعُوا وَتَفَارَطَ الْغَزْوُ فَهَمَمْتُ أَنْ أَرْتَحِلَ فَأُدْرِكَهُمْ فَيَا لَيْتَنِي فَعَلْتُ ثُمَّ لَمْ يُقَدَّرْ ذٰلِكَ لِي فَطَفِقْتُ إِذَا خَرَجْتُ فِي النَّاسِ بَعْدَ خُرُوجِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْزُنُنِي أَنِّي لَا أَرَى لِي أُسْوَةً إِلَّا رَجُلًا مَغْمُوصًا عَلَيْهِ فِي النِّفَاقِ أَوْ رَجُلًا مِمَّنْ عَذَرَ اللهُ مِنَ الضُّعَفَاءِ وَلَمْ يَذْكُرْنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَلَغَ تَبُوكَ فَقَالَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي الْقَوْمِ بِتَبُوكَ مَا فَعَلَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ يَا رَسُولَ اللهِ حَبَسَهُ بُرْدَاهُ وَالنَّظَرُ فِي عِطْفَيْهِ فَقَالَ لَهُ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ بِئْسَ مَا قُلْتَ وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ إِلَّا خَيْرًا فَسَكَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيْنَمَا هُوَ عَلَى ذٰلِكَ رَأَى رَجُلًا مُبَيِّضًا يَزُولُ بِهِ السَّرَابُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

اوکړه او مسلمانانو هم د هغوی سره تیاری اوکړه. ما هم سحر راوتل شروع کړل د هغوی سره د تیارئ په اراده. لیکن هره ورځ به زۀ واپس کیدم او څۀ فیصله به مې نۀ کوله او په زړۀ کښې به مې اووے چه زۀ کله اوغواړم تلے شم (ځکه چه سامان د سفر خما سره موجود وو) دغسې کیده کیده تردے پورے چه خلقو برابر کوشش کولو. او رسول الله ﷺ هم د سحر په وخت رااووتو د مسلمانون سره او ما څۀ تیاری نۀ وه کړے. بیا سحر زۀ رااووتم او بیا واپس شوم او څۀ فیصله مې او نۀ کړه. خما دا حال وو چه خلقو تادی اوکړه او تول مجاهدین مخے ته اووتل دغه وخت ما هم د سفر اراده اوکړه چه د هغوی سره یو ځائے لاړ شم خو کاش چه ما داسې کړے وے. لیکن خما په تقدیر کښې نۀ وه. ددے نه پس چه به زۀ بهرته راوتم د رسول الله ﷺ د تلو نه پس نو ډیر به خفه شوم. ځکه چه ما به یو کس د تابعداری لائق او نۀ موندو. مګر داسې سړے چه په هغۀ د منافق کیدو ګمان وو. یا معذور ضعیف او د کمزورو خلقو نه خیر رسول الله ﷺ (په لاره کښې) خما یا د چرته او نۀ کړو. تردے پورے چه حضرت ﷺ تبوک ته اورسیدو. حضرت ﷺ په خلقو کښې ناست وو. هغه وخت ئے اوفرمائیل چه کعب بن مالک ؓ چرته لاړو. د بنی سلمه یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ د هغۀ څادرونو هغه لره منع پاتے کړو. هغه خپلو دواړو طرفونو ته ګوری (یعنی پخپلو کپړو او نفس کښې مشغول او مصروف دے) معاذ بن جبل ؓ ددے خبرے په اوریدو اووے. تا بده خبره اوکړه. قسم په الله دے یا رسول الله ﷺ مونږ خو کعب بن مالک ؓ ښۀ ګنړو. رسول الله ﷺ ددے په اوریدو چُپ پاتے شو په دے کښې حضرت ﷺ یو سړے اولیدو چه سپینے کپړے ئے

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنْ أَبَا خَيْثَمَةَ فَإِذَا هُوَ أَبُو خَيْثَمَةَ الْأَنْصَارِيُّ وَهُوَ الَّذِي تَصَدَّقَ بِصَاعِ التَّمْرِ حِينَ لَمَزَهُ الْمُنَافِقُونَ فَقَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ فَلَمَّا بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ تَوَجَّهَ قَافِلًا مِنْ تَبُوكَ حَضَرَنِي بَثِّي فَطَفِقْتُ أَتَذَكَّرُ الْكَذِبَ وَأَقُولُ بِمَ أَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهِ غَدًا وَأَسْتَعِينُ عَلَى ذَلِكَ كُلَّ ذِي رَأْيٍ مِنْ أَهْلِي فَلَمَّا قِيلَ لِي إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَظَلَّ قَادِمًا زَاحَ عَنِّي الْبَاطِلُ حَتَّى عَرَفْتُ أَنِّي لَنْ أَنْجُوَ مِنْهُ بِشَيْءٍ أَبَدًا فَأَجْمَعْتُ صِدْقَهُ وَصَبَّحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَادِمًا وَكَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ لِلنَّاسِ فَلَمَّا فَعَلَ ذَلِكَ جَاءَهُ الْمُخَلَّفُونَ فَطَفِقُوا يَعْتَذِرُونَ إِلَيْهِ وَيَحْلِفُونَ لَهُ وَكَانُوا بِضْعَةً وَثَمَانِينَ رَجُلًا فَقَبِلَ مِنْهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَانِيَتَهُمْ وَبَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَوَكَلَ سَرَائِرَهُمْ إِلَى اللهِ حَتَّى جِئْتُ فَلَمَّا سَلَّمْتُ تَبَسَّمَ تَبَسُّمَ الْمُغْضَبِ ثُمَّ قَالَ تَعَالَ فَجِئْتُ أَمْشِي حَتَّى جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ لِي مَا خَلَّفَكَ أَلَمْ تَكُنْ قَدِ ابْتَعْتَ ظَهْرَكَ قَالَ قُلْتُ يَا

اغوستې وې راروان وو او شګې ئې الوزولې (د تلو د وجې نه) حضرت ﷺ اوفرمائیل ابوخیثمه دې. بیا هغه ابوخیثمه وو. او ابوخیثمه هغه سړې وو چا چه یو صاع کهجورې په صدقه کښې ورکړې وې. هر کله چه منافقانو په هغه باندې طعنه کړې وه کعب بن مالک ؓ وائی هر کله چه ما ته خبر رااورسیدو چه رسول الله ﷺ د تبوک نه واپس شو د مدینې په طرف نو ځما غم سوا شو. ما د دروغو خبرې جوړول شروع کړې چه یوه داسې خبره اوکړم چه په هغې سره د حضرت ﷺ غصه ختمه شي. په صبا له ددې خبرې دپاره د هر عقلمند سړي نه مدد اخستل شروع کړل په خپل کور والاؤ کښې یعنی د هغوی نه مې هم صلاح واخسته چه څۀ خبره به کوم، خلقو ما ته بیان اوکړو چه رسول الله ﷺ نزدې رااورسیدو. هغه وخت را نه ټول دروغ هیر شو. او زۀ پوهه شوم چه اوس په څۀ دروغو زۀ د حضرت نه خلاصې نۀ شم موندې. آخر ما د رښتیاؤ وئیلو نیت اوکړه او سحر له رسول الله ﷺ تشریف راوړو. او هر کله چه به حضرت د سفر نه راتلو نو ړومبې به جماعت ته تلو هلته به ئې دوه رکعته مونځ اوکړو او بیا به د خلقو سره د میلاویدو دپاره کیښناستو. هر کله چه حضرت ﷺ دا اوکړل نو کوم خلق چه روستو پاتې شوي وو هغوی خپل خپل عذر بیانول او قسمونه خوړل شروع کړل. داسې څۀ دپاسه اتیا سړي وو. حضرت ﷺ د هغوی دپاره ئې د مغفرت دُعا اوکړه. او د هغوی نیت (یعنی د زړۀ خبره ئې) الله ته اوسپارله تردې پورې چه زۀ هم راغلم. هر کله چه ما سلام اوکړو نو حضرت ﷺ مسکې شو لیکن هغه مُسکې کیدل کوم چه د غصې په حالت کښې وی. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل راځه زۀ رو رو راغلم او

رَسُولَ اللهِ إِنِّي وَاللهِ لَوْ جَلَسْتُ عِنْدَ غَيْرِكَ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا لَرَأَيْتُ أَنِّي سَأَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهِ بِعُذْرٍ وَلَقَدْ أُعْطِيتُ جَدَلًا وَلَكِنِّي وَاللهِ لَقَدْ عَلِمْتُ لَئِنْ حَدَّثْتُكَ الْيَوْمَ حَدِيثَ كَذِبٍ تَرْضَى بِهِ عَنِّي لَيُوشِكَنَّ اللهُ أَنْ يُسْخِطَكَ عَلَيَّ وَلَئِنْ حَدَّثْتُكَ حَدِيثَ صِدْقٍ تَجِدُ عَلَيَّ فِيهِ إِنِّي لَأَرْجُو فِيهِ عُقْبَى اللهِ وَاللهِ مَا كَانَ لِي عُذْرٌ وَاللهِ مَا كُنْتُ قَطُّ أَقْوَى وَلَا أَيْسَرَ مِنِّي حِينَ تَخَلَّفْتُ عَنْكَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا هَذَا فَقَدْ صَدَقَ فَقُمْ حَتَّى يَقْضِيَ اللهُ فِيكَ فَقُمْتُ وَثَارَ رِجَالٌ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ فَاتَّبَعُونِي فَقَالُوا لِي وَاللهِ مَا عَلِمْنَاكَ أَذْنَبْتَ ذَنْبًا قَبْلَ هَذَا لَقَدْ عَجَزْتَ فِي أَنْ لَا تَكُونَ اعْتَذَرْتَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا اعْتَذَرَ بِهِ إِلَيْهِ الْمُخَلَّفُونَ فَقَدْ كَانَ كَافِيَكَ ذَنْبَكَ اسْتِغْفَارُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكَ قَالَ فَوَاللهِ مَا زَالُوا يُؤَنِّبُونَنِي حَتَّى أَرَدْتُ أَنْ أَرْجِعَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُكَذِّبَ نَفْسِي قَالَ ثُمَّ قُلْتُ لَهُمْ هَلْ لَقِيَ هَذَا مَعِي مِنْ أَحَدٍ قَالُوا نَعَمْ لَقِيَهُ مَعَكَ رَجُلَانِ قَالَا مِثْلَ مَا قُلْتَ

د حضرتؐ په مخکښې کیښناستم حضرتؐ اوفرمائیل ته ولے روستو پاتې شوے. تا خو سورلۍ هم اخستے وه. ما عرض اوکړو یا رسول اللهؐ کچرے زۀ ستا نه سوا د بل یو سړی په خواه کښې د دنیا د خلقو نه کیښناستے نو ما به دا خیال کړے وے چه عذر بیان کړم چه د دوی د غصے نه اوځم او ما ته الله تعالی د ژبے قوت راکړے دے (یعنی زۀ مزیدار تقریر کولے شم او ښه خبره جوړولے شم) لیکن قسم په خدائے زۀ پوهیږم چه کچرے زۀ یوه دروغ خبره تا ته اوکړم او تا د خان نه خوشحاله کړم نو نږدے ده چه الله تعالی تاسو په ما باندے غصه کړی (یعنی چه الله تعالی تاسو ته اوښائی چه خما عذر غلط او دروغ وو او تاسو خما نه خفه شئ) او کچرے زۀ تاسو ته ربښتیا ربښتیا اووایم نو بیشکه چه تاسو به غصه شئ مګر اُمید دے چه الله تعالی به ئے انجام په خیر کړی. په الله قسم دے ما ته هیڅ عذر نۀ وو. په الله قسم دے ما ته هیڅ عذر نۀ وو. په الله قسم دے چه زۀ چرته هم دومره طاقت والا مالدار نۀ وم څومره چه ستاسو نه د پاتے کیدو په وخت کښې وم. رسول اللهؐ اوفرمائیل کعب ربښتیا اووے. بیا حضرتؐ اوفرمائیل ښه ده څۀ تر دے پورے چه الله به ستا په باره کښې حکم اوفرمائی. زۀ پاڅیدم او څۀ خلق د بنی سلمه په منډه په ما پسے راغلل او ما ته ئے اووئیل په الله قسم دے مونږ نۀ پوهیږو چه تا د دے نه مخکښې څۀ قصور کړے وی. خو ته عاجز ولے شوے او څۀ عذر دِ ولے او نۀ کړو د رسول اللهؐ په مخکښې لکه څنګه چه نورو پاتے شوو خلقو عذر بیان کړو. او ستا د ګناه ختمیدو دپاره د رسول اللهؐ استغفار پوره وو. په الله قسم دے چه هغه خلقو به ما ملامته وئیله تر دے پورے چه ما اراده اوکړه چه بیا د رسول اللهؐ

فَقِيلَ لَهُمَا مِثْلَ مَا قِيلَ لَكَ قَالَ قُلْتُ مَنْ هُمَا قَالُوا مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيعَةَ الْعَامِرِيُّ وَهِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ الْوَاقِفِيُّ قَالَ فَذَكَرُوا لِي رَجُلَيْنِ صَالِحَيْنِ قَدْ شَهِدَا بَدْرًا فِيهِمَا أُسْوَةٌ قَالَ فَمَضَيْتُ حِينَ ذَكَرُوهُمَا لِي قَالَ وَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمِينَ عَنْ كَلَامِنَا أَيُّهَا الثَّلَاثَةُ مِنْ بَيْنِ مَنْ تَخَلَّفَ عَنْهُ قَالَ فَاجْتَنَبَنَا النَّاسُ وَقَالَ تَغَيَّرُوا لَنَا حَتَّى تَنَكَّرَتْ لِي فِي نَفْسِيَ الْأَرْضُ فَمَا هِيَ بِالْأَرْضِ الَّتِي أَعْرِفُ فَلَبِثْنَا عَلَى ذَلِكَ خَمْسِينَ لَيْلَةً فَأَمَّا صَاحِبَايَ فَاسْتَكَانَا وَقَعَدَا فِي بُيُوتِهِمَا يَبْكِيَانِ وَأَمَّا أَنَا فَكُنْتُ أَشَبَّ الْقَوْمِ وَأَجْلَدَهُمْ فَكُنْتُ أَخْرُجُ فَأَشْهَدُ الصَّلَاةَ وَأَطُوفُ فِي الْأَسْوَاقِ وَلَا يُكَلِّمُنِي أَحَدٌ وَآتِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُسَلِّمُ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي مَجْلِسِهِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَأَقُولُ فِي نَفْسِي هَلْ حَرَّكَ شَفَتَيْهِ بِرَدِّ السَّلَامِ أَمْ لَا ثُمَّ أُصَلِّي قَرِيبًا مِنْهُ وَأُسَارِقُهُ النَّظَرَ فَإِذَا أَقْبَلْتُ عَلَى صَلَاتِي نَظَرَ إِلَيَّ وَإِذَا الْتَفَتُّ نَحْوَهُ أَعْرَضَ عَنِّي حَتَّى إِذَا طَالَ ذَلِكَ عَلَيَّ مِنْ جَفْوَةِ الْمُسْلِمِينَ مَشَيْتُ حَتَّى تَسَوَّرْتُ جِدَارَ حَائِطِ أَبِي قَتَادَةَ وَهُوَ

خواته واپس شم او خپل خان دروغژن کړم (او څۀ عذر بیان کړم) بیا ما هغه خلقو ته اووے ړل څوك هم داسے شته لکه څنګه چه زۀ شوم. هغوی اووے آو. دوه سړی نور دی. هغوی هم دغسے وئیلی دی څۀ چه تا وئیلی دی. او رسول الله ﷺ هغوی ته هم دغسے فرمائیلی دی څۀ چه نے تا ته اوفرمائیل. ما تپوس اوکړو چه هغه دوه سړی څوك دی. هغوی اووے مراره بن ربیعه او هلال بن اُمیه واقفی. هغه خلقو دداسے دوو سړو نوم واخستو چه هغه نیکان وو. او د بدر په غزا کښې موجود وو. او د پیروی قابل وو. هر کله چه د هغه سړو نومونه خلقو واخستل نو زۀ روان شوم. او رسول الله ﷺ مسلمانان منع کړی وو زمونږ د ریؤ سړو سره د خبرو کولو نه د هغه کسانو نه چه روستو پاتے شوی وو. نو خلقو زمونږ نه پرهیز شروع کړو. او د هغوی حال زمونږ سره بالکل بدل شو تردے پورے چه زمکه هم لکه بدله شوه. هغه زمکه پاتے نۀ شوه کومے چه به زۀ پیژندلم. د پنځوستو شپو پورے زمونږ دغه حال وو. ځما دواړه ملګری خو عاجز شول او په خپلو خپلو کورونو کښې په ژړا کیښناستل. لیکن زۀ خو په ټولو خلقو کښې کم عمر او طاقتور وم. زۀ به راوتم او د مانځۀ دپاره به هم راتلم او په بازارونو کښې به هم ګرځیدم خو چا به ځما سره خبرے نۀ کولے. او د رسول الله ﷺ خواله به راتلم او حضرت ﷺ ته به مے سلام کوۀ. او حضرت ﷺ به په خپل جائے باندے د مانځۀ نه پس ناست وو. او په زړۀ کښې به مے داوے چه حضرت ﷺ ما ته د سلام په جواب راکولو شونډے مبارکے اوخوزولے او کۀ نه بیا به مے د هغوی په خوا کښې مونځ کوو. او په پټه به مے (د سترګو په ګوټونو) حضرت ﷺ ته کتل. هر کله چه به زۀ په مانځۀ کښې وم نو حضرت ﷺ

ابْنُ عَمِّي وَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَوَاللهِ مَا رَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَبَا قَتَادَةَ أَنْشُدُكَ بِاللهِ هَلْ تَعْلَمَنَّ أَنِّي أُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ قَالَ فَسَكَتَ فَعُدْتُ فَنَاشَدْتُهُ فَسَكَتَ فَعُدْتُ فَنَاشَدْتُهُ فَقَالَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَفَاضَتْ عَيْنَايَ وَتَوَلَّيْتُ حَتَّى تَسَوَّرْتُ الْجِدَارَ فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي فِي سُوقِ الْمَدِينَةِ إِذَا نَبَطِيٌّ مِنْ نَبَطِ أَهْلِ الشَّامِ مِمَّنْ قَدِمَ بِالطَّعَامِ يَبِيعُهُ بِالْمَدِينَةِ يَقُولُ مَنْ يَدُلُّ عَلَى كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ فَطَفِقَ النَّاسُ يُشِيرُونَ لَهُ إِلَيَّ حَتَّى جَاءَنِي فَدَفَعَ إِلَيَّ كِتَابًا مِنْ مَلِكِ غَسَّانَ وَكُنْتُ كَاتِبًا فَقَرَأْتُهُ فَإِذَا فِيهِ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّهُ قَدْ بَلَغَنَا أَنَّ صَاحِبَكَ قَدْ جَفَاكَ وَلَمْ يَجْعَلْكَ اللهُ بِدَارِ هَوَانٍ وَلَا مَضْيَعَةٍ فَالْحَقْ بِنَا نُوَاسِكَ قَالَ فَقُلْتُ حِينَ قَرَأْتُهَا وَهَذِهِ أَيْضًا مِنَ الْبَلَاءِ فَتَيَامَمْتُ بِهَا التَّنُّورَ فَسَجَرْتُهَا بِهَا حَتَّى إِذَا مَضَتْ أَرْبَعُونَ مِنَ الْخَمْسِينَ وَاسْتَلْبَثَ الْوَحْيُ إِذَا رَسُولُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِينِي فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَعْتَزِلَ امْرَأَتَكَ قَالَ فَقُلْتُ أُطَلِّقُهَا أَمْ مَاذَا أَفْعَلُ قَالَ لَا بَلِ اعْتَزِلْهَا

به خما په طرف کتل. او کله چه به ما د حضرت ﷺ په طرف اوکتل نو حضرت ﷺ به خما نه مخ واړه وو. ترډے پورے چه هر کله د مسلمانانو سختی په ما باندے اوږده شوه نو زهٔ لاړم او د ابو قتادهؓ د باغ په دیوال باندے اوختم. ابو قتادهؓ خما د ترهٔ خویْ وو او د تولو خلقو نه زیات خما د هغوی سره محبت وو. هغوی ته مے سلام اوکړو. نو په الله قسم دے چه هغوی د سلام جواب رانهٔ کړو (سبحان الله د رسول الله ﷺ تابعدار او عاشقان داسے وی چه د حضرت ﷺ د ارشاد په مخکښې د خپل رور سره محبت نهٔ کوی. هر کله چه داسے محبت نهٔ وی نو ایمان د څهٔ دے. ما هغوی ته اووے چه اے ابوقتاده تهٔ دانهٔ گنړے چه زهٔ د الله او د هغهٔ د رسولﷺ سره محبت لرم. هغه خاموش شو. بیا درے خله قسم مے ورکړو نو اوئے وئیلے الله او د هغهٔ رسولﷺ بنه پوهیږی. (دائے هم کعب ته او نهٔ وے بلکه د خان سره ئے اووے آخر خما د سترگو نه اوښکے روانے شوے او واپس په دیوال باندے اوختم لاړم. زهٔ د مدینے په بازار کښې روان وم چه د شام د زمیندارو نه یو زمیندار چه غله ئے د خرڅ دپاره مدینے ته راوړے وه اوئے وئیل چه د کعب بن مالك کور به ما ته څوك اوښائی؟ خلقو هغهٔ ته خما په طرف اشاره اوکړه. ترډے پورے چه هغه خماخواله راغے. او ما ته ئے د غسان د بادشاه یو خط راکړو. زهٔ منشی وم ما چه اولوستو نو په هغے کښې دا لیکلی وو: روستو د حمد و نعت نه د کعب ته معلومه وی چه مونږ ته دا خبر رارسیدلے دے چه ستاسو صاحب (یعنی رسول الله ﷺ) په تاسو باندے جفا کړے ده. او الله تعالی دے تاسو لره د ذلت په کور کښې وانهٔ چوی. نهٔ داسے ځائے کښې چه هلته ستاسو حق ضائع شی نو تهٔ زمونږ سره میلاؤ شه مونږ

فَلَا تَقْرَبَنَّهَا قَالَ فَأَرْسَلَ إِلَى صَاحِبِيَّ بِمِثْلِ ذٰلِكَ قَالَ فَقُلْتُ لِامْرَأَتِي الْحَقِي بِأَهْلِكِ فَكُونِي عِنْدَهُمْ حَتّٰى يَقْضِيَ اللّٰهُ فِي هٰذَا الْأَمْرِ قَالَ فَجَاءَتِ امْرَأَةُ هِلَالِ بْنِ أُمَيَّةَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ شَيْخٌ ضَائِعٌ لَيْسَ لَهُ خَادِمٌ فَهَلْ تَكْرَهُ أَنْ أَخْدُمَهُ قَالَ لَا وَلٰكِنْ لَا يَقْرَبَنَّكِ فَقَالَتْ إِنَّهُ وَاللّٰهِ مَا بِهِ حَرَكَةٌ إِلَى شَيْءٍ وَ وَاللّٰهِ مَا زَالَ يَبْكِي مُنْذُ كَانَ مِنْ أَمْرِهِ مَا كَانَ إِلَى يَوْمِهِ هٰذَا قَالَ فَقَالَ لِي بَعْضُ أَهْلِي لَوِ اسْتَأْذَنْتَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي امْرَأَتِكَ فَقَدْ أَذِنَ لِامْرَأَةِ هِلَالِ بْنِ أُمَيَّةَ أَنْ تَخْدُمَهُ قَالَ فَقُلْتُ لَا أَسْتَأْذِنُ فِيهَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يُدْرِينِي مَاذَا يَقُولُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنْتُهُ فِيهَا وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ قَالَ فَلَبِثْتُ بِذٰلِكَ عَشْرَ لَيَالٍ فَكَمَلَ لَنَا خَمْسُونَ لَيْلَةً مِنْ حِينَ نُهِيَ عَنْ كَلَامِنَا قَالَ ثُمَّ صَلَّيْتُ صَلَاةَ الْفَجْرِ صَبَاحَ خَمْسِينَ لَيْلَةً عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِنَا فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ عَلَى الْحَالِ الَّتِي ذَكَرَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنَّا قَدْ ضَاقَتْ عَلَيَّ نَفْسِي وَضَاقَتْ عَلَيَّ الْأَرْضُ

به ستا خاطر داری اوکړو. ما چه هر کله دغه خط اولوستو نو اومے وے چه دا هم یوه بلا ده. امانیشت دے. او هغه خط ما په نغری کښې اوسیزۀ. هر کله چه په پنځوسو ورځو کښې څلویښت ورځے تیرے شوے او وحی رانغله نو نا څاپه د رسول الله ﷺ قاصد ځما خواله راغې. او اوئې وئیل چه رسول الله ﷺ تاسو ته حکم کوی چه د خپلے بی بی نه جدا شه ما اووے هغے له طلاق ورکړم یا څۀ اوکړم؟ هغۀ اووے نه طلاق مۀ ورکوه. صرف جدا شه ترے او صحبت ورسره مۀ کوه. او ځما په دوارو ملګرو پسے هم دغه پیغام لاړو. ما خپلے بی بی ته اووے تۀ د خپلو عزیزانو کورته لاړه شه او هلته اوسیږه. تردے پورے چه الله تعالی به په دے باره کښې څۀ حکم ورکړی. د هلال بن امیه بی بی ددے په اوریدو د رسول الله ﷺ خواله لاړه او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله هلال بن امیه یو بوډا بے کاره سړے دے د هغۀ سره د خدمت څوك نشته دے نو ولے تاسو بد ګنړئ کچرے زۀ د هغۀ خدمت کوم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ خدمت بد نۀ ګنړم لیکن هغه به ستا سره صحبت نۀ کوی. هغے اووے په الله قسم دے هغۀ ته د هیڅ یو کار خیال نشته او په الله قسم دے چه هغه د هغه ورځے نه تر اوسه پورے ژړا کوی. ځما کور والا اووے کاش چه تا هم د رسول الله ﷺ نه د خپلے بی بی سره د اوسیدو اجازت اخستے وے. ولے چه حضرت د هلال بن امیه ښځے ته د هغۀ د خدمت اجازت ورکړے دے. ما اووے زۀ به چرته د حضرت ﷺ نه د خپلے بی بی دپاره اجازت وانخلم او معلومه نۀ ده چه رسول الله ﷺ به څۀ فرمائی چه زۀ ترے د خپلے بی بی دپاره اجازت اخلم او زۀ ځوان سړے یم بیا د لسو شپو پورے ځما دغه

بِمَا رَحُبَتْ سَمِعْتُ صَوْتَ صَارِخٍ أَوْفَى عَلَى سَلْعٍ يَقُولُ بِأَعْلَى صَوْتِهِ يَا كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ أَبْشِرْ قَالَ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا وَعَرَفْتُ أَنْ قَدْ جَاءَ فَرَجٌ قَالَ فَآذَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ بِتَوْبَةِ اللهِ عَلَيْنَا حِينَ صَلَّى صَلَاةَ الْفَجْرِ فَذَهَبَ النَّاسُ يُبَشِّرُونَنَا فَذَهَبَ قِبَلَ صَاحِبَيَّ مُبَشِّرُونَ وَرَكَضَ رَجُلٌ إِلَيَّ فَرَسًا وَسَعَى سَاعٍ مِنْ أَسْلَمَ قِبَلِي وَأَوْفَى الْجَبَلَ فَكَانَ الصَّوْتُ أَسْرَعَ مِنَ الْفَرَسِ فَلَمَّا جَاءَنِي الَّذِي سَمِعْتُ صَوْتَهُ يُبَشِّرُنِي فَنَزَعْتُ لَهُ ثَوْبَيَّ فَكَسَوْتُهُمَا إِيَّاهُ بِبِشَارَتِهِ وَاللهِ مَا أَمْلِكُ غَيْرَهُمَا يَوْمَئِذٍ وَاسْتَعَرْتُ ثَوْبَيْنِ فَلَبِسْتُهُمَا فَانْطَلَقْتُ أَتَأَمَّمُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَلَقَّانِي النَّاسُ فَوْجًا فَوْجًا يُهَنِّئُونِي بِالتَّوْبَةِ وَيَقُولُونَ لِتَهْنِئْكَ تَوْبَةُ اللهِ عَلَيْكَ حَتَّى دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ وَحَوْلَهُ النَّاسُ فَقَامَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ يُهَرْوِلُ حَتَّى صَافَحَنِي وَهَنَّأَنِي وَاللهِ مَا قَامَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ غَيْرُهُ قَالَ فَكَانَ كَعْبٌ لَا يَنْسَاهَا لِطَلْحَةَ قَالَ كَعْبٌ فَلَمَّا سَلَّمْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى

حال وو تر دے پورې چه پنخوس شپے پوره شوے د هغه تاريخ نه د کوم نه چه حضرت ﷺ منع فرمانيلے وه زمونږ سره د خبرو کولو نه بيا په پنخوستمه شپه ما د سحر مونځ د خپل کور په چت باندے ادا کړو زۀ په دغه حال کښې ناست وم چه الله تعالى زمونږ حال بيان کړو چه خما زړۀ تنګ شوے وو او زمکه د دومره فراخ والى باوجود په ما تنګه شوے وه چه په دے کښې ما د يو آواز کونکى آواز واوريدۀ. چه سلع ته ختلے وو (سلع په مدينه کښې يو غر دے) او په اوچت آواز ئے اووے اے کعبه بن مالك خوشحاله شه ددے په اوريدو سره زۀ په سجده پريوتم او ما او پيژنده چه خوشحالى راغله بيا رسول الله ﷺ خلق خبر کړل چه الله مونږ معاف کړو. هر کله چه حضرت ﷺ د سحر مونځ ادا کړو نو خلق په مونږ پسے د خوشخبرئ راکولو دپاره راروان شو. نو خما په دوارو ملګرو پسے يو څو سړى زيرے ورکونکى لاړل او يو سړى خما په طرف اس راآوزغلوۀ او يو منډے وهلو والا منډے کړے د اسلم د قبيلے نه خما په طرف او د هغۀ آواز د اس نه زر ما ته رااورسيدو. هر کله چه هغه سړے راغے د کوم د خوشخبرئ آواز چه ما اوريدلے وو. نو ما خپلے دواړه کپړے اوويستے او هغۀ ته مے واغوستولے په زيرى کښې. په الله قسم دے دغه وخت خما سره دغه دوه کپړے وے. اوما دوه کپړے رااوغوښتے او هغه مے واغوستلے. او د رسول الله ﷺ سره د ميلاويدو په نيت روان شوم. خلق به خما سره په ټولګو ټولګو ميلاويدل او د الله د معاف کولو مبارکى به ئے راکوله چه د الله معافى دِ مبارك شه تر دے پورے چه زۀ جماعت ته اورسيدم رسول الله ﷺ په جماعت کښې ناست وو او خلق ورسره ناست وو. طلحه بن

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ يَبْرُقُ وَجْهُهُ مِنَ السُّرُورِ وَيَقُولُ أَبْشِرْ بِخَيْرِ يَوْمٍ مَرَّ عَلَيْكَ مُنْذُ وَلَدَتْكَ أُمُّكَ قَالَ فَقُلْتُ أَمِنْ عِنْدِكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَمْ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ فَقَالَ لَا بَلْ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سُرَّ اسْتَنَارَ وَجْهُهُ كَأَنَّ وَجْهَهُ قِطْعَةُ قَمَرٍ قَالَ وَكُنَّا نَعْرِفُ ذٰلِكَ قَالَ فَلَمَّا جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللّٰهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْسِكْ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قَالَ فَقُلْتُ فَإِنِّي أُمْسِكُ سَهْمِيَ الَّذِي بِخَيْبَرَ قَالَ وَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ إِنَّمَا أَنْجَانِي بِالصِّدْقِ وَإِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ لَا أُحَدِّثَ إِلَّا صِدْقًا مَا بَقِيتُ قَالَ فَوَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ أَنَّ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ أَبْلَاهُ اللّٰهُ فِي صِدْقِ الْحَدِيثِ مُنْذُ ذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى يَوْمِي هٰذَا أَحْسَنَ مِمَّا أَبْلَانِي اللّٰهُ بِهِ وَاللّٰهِ مَا تَعَمَّدْتُ كَذْبَةً مُنْذُ قُلْتُ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى يَوْمِي هٰذَا وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يَحْفَظَنِي اللّٰهُ فِيمَا بَقِيَ قَالَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ

عبید الله چه زۀ اولیدم نو په منډه راغے تردے پورے چه خما سره ئے مصافحه اوکړه او مبارکی ئے راکړه. قسم په خدائے چه په مهاجرینو کښې بل یو سړے هم پانړه شیدۀ. نو کعبؓ به د طلحهؓ احسان نۀ شو هیرولے کعبؓ وائی هر کله چه ما رسول اللهﷺ ته سلام اوکړو نو د حضرتﷺ مخ د خوشحالئ نه پرقیدۀ. حضرتﷺ اوفرمائیل خوشحاله شه د نن ورځې نه چه ستا دپاره غوره ورځ ده د کله نه چه تۀ مور زیږولے یې. ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ دا معافی ستا د طرفنه ده او کۀ د اللهؓ د طرفنه ده. حضرتﷺ اوفرمائیل د اللهؓ د طرفنه ده. او رسول اللهﷺ چه به هر کله خوشحاله شو نو د هغوی مخ مبارک به لکه د څوارلسمے سپوږمئ د ټکړے پشان اوپرقیدو. او مونږ به هغه خبره اوپیژنده (یعنی د هغۀ خوشحالئ لره) هر کله چه زۀ د هغوی په مخکښې کیناستم نو ما عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ زۀ د خپلے معافئ په خوشحالئ کښې خپل مال صدقه کوم د اللهؓ او د هغۀ د رسول اللهﷺ دپاره. حضرتﷺ اوفرمائیل لږ شان مال خان له اوساته ما عرض اوکړو نو زۀ به خپله حصه د خیبر پاتے کړم. او ما عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ آخر رښتیاؤ ماله خلاصے راکړو او خما په توبه کښې دا هم داخله ده چه همیشه به رښتیا وایم د کومے پورے چه ژوندے یم. کعب اووے نۀ پوهیږم چه اللهؓ په هیڅ یو مسلمان باندے داسے احسان کړے وی په رښتیا وئیلو کښې. د کله نه چه ما دا ذکر اوکړو رسول اللهﷺ ته لکه څنګه چه ئے په ښۀ طریقه په ما باندے احسان اوکړو. قسم په الله دے چه ما د هغے ورځے نه هیڅ دروغ قصداً نۀ دی وئیلی. د کومے ورځے نه چه مے رسول اللهﷺ ته وئیلی وو د نن ورځے پورے. او اُمید لرم چه په باقی ژوند کښې به

وَجَلَّ لَقَدْ تَابَ اللهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ حَتَّى بَلَغَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ قَالَ كَعْبٌ وَاللهِ مَا أَنْعَمَ اللهُ عَلَيَّ مِنْ نِعْمَةٍ قَطُّ بَعْدَ إِذْ هَدَانِي اللهُ لِلْإِسْلَامِ أَعْظَمَ فِي نَفْسِي مِنْ صِدْقِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا أَكُونَ كَذَبْتُهُ فَأَهْلِكَ كَمَا هَلَكَ الَّذِينَ كَذَبُوا إِنَّ اللهَ قَالَ لِلَّذِينَ كَذَبُوا حِينَ أَنْزَلَ الْوَحْيَ شَرَّ مَا قَالَ لِأَحَدٍ وَقَالَ اللهُ سَيَحْلِفُونَ بِاللهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ إِنَّهُمْ رِجْسٌ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللهَ لَا يَرْضَى عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ قَالَ كَعْبٌ كُنَّا خُلِّفْنَا أَيُّهَا الثَّلَاثَةُ عَنْ أَمْرِ أُولَئِكَ الَّذِينَ قَبِلَ مِنْهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ حَلَفُوا لَهُ فَبَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَأَرْجَأَ رَسُولُ اللهِ

ے هم الله د دروغو نه بچ ساتی. کعبؓ وائی الله تعالی دا ایتونه رااولیږل: لَقَدْ تَابَ اللهُ عَلَى النَّبِيِّ د آخره پورے یعنی بیشکه الله تعالی معاف کړو نبی او مهاجرو او انصارو لره چه هغوی ملګرتیا کړے ده د نبی د غریت په وخت تردے پورے چه اونے فرمائیل هغه مهربانه او رحم کونکے دے. او الله تعالی معاف کړی دی هغه درے سړو لره چه روستو پاتے شوی دی تردے پوری چه هر کله فراخه زمکه په هغوی باندے تنګه شوه. او د هغوی زړونه هم تنګ شو. او پوه شو چه اوس څۀ بچاؤ نشته د الله نه مګر د هغۀ په طرف کښې بیا الله معاف کړو هغوی لره ددے دپاره چه هغوی توبه اوباسی. بیشکه الله تعالی بخښونکے او مهربانه دے. اے ایماندارو د الله نه اوویرېږئ او د رښتونو ملګری شئ. کعبؓ اووے په الله قسم دے چه الله تعالی د اسلام راوړو نه پس یو احسان هم ددے نه زیات په ما باندے نۀ دے کړے چه هغه دومره لوئے وی څما په نزد ددے خبرے نه چه ما رښتیا اووے رسول الله ﷺ ته او دروغ مے او نۀ وے ګنی د دروغژنو پشان به تباه شوے وم الله تعالی چه د دروغژنو په باره کښې هر کله وحی نازله کړے ده. نو داسے بد نے ورته وئیلی دی چه چا ته ئے نۀ دی وئیلی. نو فرمائیلی ئے دی هر کله چه تۀ واپس راغلے نو هغوی قسمونه خوړل شروع کړل ددے دپاره دوی ته خکه چه دوی ناپاك دی او آخری ځائے جهنم دے. دا بدله ده د هغوی د ګټے. قسمونه خوری تا ته چه تۀ خوشحاله شے د هغوی نه پس کچرے تۀ خوشحاله شے د هغوی نه بیا هم الله تعالی نه خوشحاله کیږی د بد کارونه کعبؓ وائی مونږ درے واړه روستو اوغورځولے شو د هغه خلقو نه چه د هغوی عذر رسول الله ﷺ قبول



صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْرَنَا حَتَّى قَضَى فِيهِ فَبِذَلِكَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا وَلَيْسَ الَّذِي ذَكَرَ اللهُ مِمَّا خُلِّفْنَا تَخَلُّفَنَا عَنِ الْغَزْوِ وَإِنَّمَا هُوَ تَخْلِيفُهُ إِيَّانَا وَإِرْجَاؤُهُ أَمْرَنَا عَمَّنْ حَلَفَ لَهُ وَاعْتَذَرَ إِلَيْهِ فَقَبِلَ مِنْهُ

کړو. هر کله چه هغوی قسم اوخوړو نو بیعت ئے اوکړو د هغوی نه او حضرت ﷺ استغفار اوکړو د هغوی دپاره او مونږ رسول الله ﷺ مخے ته کینبودو (یعنی زمونږ مقدمه ئے مخے ته کینبوده تردے پورے چه الله تعالی فیصله اوکړه. په دی وجه الله اوفرمائیل چه معاف کړه هغه دریو لره چه روستو غورځولی شوی دی. او دے لفظ نه (یعنی خُلِّفُوا) نه دا مراد نۀ دے چه مونږ د جهاد نه روستو پاتے شو. بلکه مراد دادے زمونږ مقدمه روستو کول. او بیرته کینبودل د هغوی مونږ لره په نسبت د هغه خلقو چه قسم ئے اوخوړو او عذر ئے اوکړو حضرت ﷺ ته او هغوی قبول کړو د هغوی عذر لره.

عَنِ الزُّهْرِيِّ سَوَاءً

د زهری نه هم بالکل دغسے روایت دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَ قَائِدَ كَعْبٍ حِينَ عَمِيَ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُ حَدِيثَهُ حِينَ تَخَلَّفَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَزَادَ فِيهِ عَلَى يُونُسَ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَلَّمَا يُرِيدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرَّى بِغَيْرِهَا حَتَّى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِ ابْنِ أَخِي الزُّهْرِيِّ أَبَا خَيْثَمَةَ وَلُحُوقَهُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن کعب بن مالک‌ؓ نه روایت دے او هغه کعب لره گرزونکے وه هر کله چه کعب ړوند شوے وو. هغوی اووے چه ما کعب بن مالک‌ؓ لره خپل حدیث بیانونکے اوریدلے دے د هغه وخت په باره کښې هر کله چه د غزوهٔ تبوک په موقع باندے هغه د رسول الله ﷺ نه روستو پاتے شوے وو. مخکښې ئے پوره حدیث بیان کړو. او په دے کښې ئے دا زیاته کړه چه رسول الله ﷺ هر کله یو جهاد ته د تلو اراده کوله نو اکثر به ئے بل ځائے ښودلو (چه دروغ به هم نۀ وو او د مصلحت نه به ئے داسے فرمائیل) خو په دے جنګ کښې حضرت ﷺ صاف صاف اوفرمائیل. د زهری په حدیث کښې د ابوخیثمه او د هغۀ د نبی ﷺ سره میلاویدو څۀ ذکر نۀ دے شوے.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ كَعْبٍ وَكَانَ قَائِدَ كَعْبٍ حِينَ أُصِيبَ بَصَرُهُ وَكَانَ أَعْلَمَ قَوْمِهِ وَأَوْعَاهُمْ لِأَحَادِيثِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ

د عبید الله بن کعب‌ؓ نه روایت دے او هغه کعب لره گرزونکے وو هر کله چه هغه د لیدلو نه محروم شوے وو او کعب بن مالک‌ؓ په خپل قوم کښې د ټولو نه زیات علم لرلو.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي بْنَ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ وَهُوَ أَحَدُ الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ تِيبَ عَلَيْهِمْ يُحَدِّثُ أَنَّهُ لَمْ يَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا قَطُّ غَيْرَ غَزْوَتَيْنِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَقَالَ فِيهِ وَغَزَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَاسٍ كَثِيرٍ يَزِيدُونَ عَلَى عَشَرَةِ آلَافٍ وَلَا يَجْمَعُهُمْ دِيوَانُ حَافِظٍ

او د تولو نه زيات احاديث هغوی ته ياد وو د رسول الله ﷺ نه. كعب بن مالك په هغه دريو سړو كښې وو كوم چه الله تعالى معاف كړی وو. هغوی به حديث بيانوي چه هغه نه دے روسته شوے د رسول الله ﷺ نه په هيڅ يوه غزا كښې سوا د دوو جنګونو نه بيانئے بيان كړه قصه. په دے كښې دادی چه رسول الله ﷺ د ډيرو سړو سره جهاد اوكړو چه د هغوی شمار د لسو زرو كسانو نه هم زيات وو. او په يو دفتر كښې د هغوی نوم نه وو[1].

بَابُ فِي حَدِيثِ الْإِفْكِ

باب : په حضرت عائشے صديقےؓ چه كوم تهمت لګيدلے وو د هغے بيان

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَعُرْوَةَ بْنِ

د سعيد بن المسيب او عروه بن زبير او علقمه بن وقاص او عبيد

---

[1] ابوزرعه رازي وئيلي دي چه اوولس زره سړي وو. ابن اسحاق وئيلي دي چه ديرش زره سړي وو او دغه مشهوره ده. نوويؒ وائي چه د دے حديث نه ډيرے فائدے راووتے. (۱) د غنيمت مباح كيدل (۲) فضيلت د اهل بدر او اهل عقبه (۳) بغير د قسم وركولو قسم خوړل (۴) د جنګ په وخت د امام خپل مقصد پټول (۵) د نيكے خبرے كوم چه پاتے شي آرزو كول (۶) د مسلمان غيبت چه څوك كوي د هغے رد كول لكه چه معاذؓ اوكړل (۷) د رښتياؤ فضيلت (۸) د سفر نه د راتلو په وخت جماعت ته تلل او دوه ركعته مونځ كول (۹) په مجلس عام كښې كيښناستل (۱۰) په ظاهر باندے حكم كول (۱۱) د بدعت د خاوندانو سره ملاقات پريخودل او سلام وكلام نه كول (۱۲) د ګناه د يرے نه په خپل خان ژړل (۱۳) د ستركو په ګوتونو سره په كتلو باندے مونځ نه ماتيږي (۱۴) سلام هم كلام دے (۱۵) د الله او د رسول تابعداری په خپلولئ باندے مخكښې ده (۱۶) په كلام كښې دا ضروري ده چه د بل سره د خبرو كولو نيت وي (۱۷) په كوم كاغذ چه د الله نوم وي سيزل ئے صحيح دي (۱۸) داسے خبره پټول چه په هغے كښې د فساد يره وي (۱۹) ښځه د خپلوانو كورته ليږل طلاق نه دي د كومے پورے چه د طلاقو نيت ئے نه وي (۲۰) ښځه پخپله مرضئ د خاوند خدمت كولے شي يعني په هغے زور نشته دے (۲۱) صحبت وغيره لره په كنايه سره بيانول غوره دي (۲۲) احتياط كول غور دي (۲۳) د شكر سجده كول مستحب دي (۲۴) زيرے وركول مستحب دي (۲۵) مباركي وركول مستحب دي (۲۶) د زيری وركونكي سره ښه سلوك كول (۲۷) د قسم تخصيص په نيت سره كيږي (۲۸) قرض پوره وركول جائز دي (۲۹) د كپړو قرضول صحيح دي (۳۰) د امام نه روستو د خلقو جمع كيدل (۳۱) د اهل فضل په راتلو سره اودريدل مستحب دي او ما په دے باره كښې يوه مستقله رساله ليكلے ده (۳۲) مصافحه د ملاقات په وخت مسنون ده (۳۳) د امام خوشحاليدل د خپلو خلقو په خوشحالئ سره (۳۴) د خوشحالئ په وخت صدقه وركول (۳۵) تول مال نه صدقه كول (۳۶) تول مال د صدقه كولو نه منع كول په كوم سبب سره چه معافي شوے وي د هغے خيال ساتل. لكه څنګه چه كعب د رښتياؤ خيال اوساتلو.

الزُبير وعلقمةَ بنُ وقّاصٍ وعُبيدُ اللهِ بنُ
عَبدِ اللهِ بنِ عُتبَةَ بنِ مسعودٍ عن
حديثِ عائشةَ زوجِ النبيِّ صلَى اللهُ عليهِ
وسلَّم حين قالَ لها أهلُ الإفكِ ما قالُوا
فبرأها اللهُ مِمّا قالُوا وكُلُّهُم حدَّثني
طائفةً مِن حديثِها وبعضُهم كان أوعىٰ
لحديثِها مِن بعضٍ وأثبتَ اقتِصاصًا وقد
وعيتُ عن كُلِّ واحدٍ مِنهُم الحديثَ
الذي حدَّثني وبعضُ حديثِهِم يُصدِّقُ
بعضًا ذكرُوا أنَّ عائشةَ زوجَ النبيِّ صلَى
اللهُ عليهِ وسلَّمَ قالت كانَ رسُولُ اللهِ
صلَى اللهُ عليهِ وسلَّمَ إذا أرادَ أن يخرُجَ
سفرًا أقرعَ بينَ نِسائِهِ فأيَّتُهُنَّ خرجَ
سهمُها خرجَ بها رسُولُ اللهِ صلَى اللهُ
عليهِ وسلَّمَ معهُ قالت عائشةُ فأقرعَ
بيننا في غزوةٍ غزاها فخرجَ فيها سهمي
فخرجتُ مع رسُولِ اللهِ صلَى اللهُ عليهِ
وسلَّمَ وذلِكَ بعدَ ما أُنزِلَ الحِجابُ فأنا
أُحمَلُ في هودجي وأُنزَلُ فيهِ مسيرَنا
حتّى إذا فرغَ رسُولُ اللهِ صلَى اللهُ عليهِ
وسلَّمَ مِن غزوِهِ وقفلَ ودنونا مِن
المدينةِ آذنَ ليلةً بالرَّحيلِ فقُمتُ حينَ
آذنُوا بالرَّحيلِ فمشيتُ حتّى جاوزتُ

الله بن عبد الله بن عتبه بن مسعود نه روايت دے. دے دوارو د حضرت عائشې حديث روايت کړےدے هر کله چه په هغوی باندے تهمت کونکو اووے هغه څه چه وئيل ئے بيا الله تعالی پاکه کړه هغې لره د هغه تهمت نه چه دوی وئيلي وو زهری وائی دے تولو خلقو يوه يوه ټکړه د دے حديث ما ته روايت کړے ده. څنې د هغوی نه زيات ياد ساتلو والاوو د دے حديث د څنو نه او زيات حافظان وو او صفا بيان کولو والاوو دے لره او ما ياد ساتلے د هر يو هغه روايت چه ما اوريدلے دے او د څنو حديث د څنو تصديق کوی دغه خلقو بيان کړے دے چه حضرت عائشې فرمائيلي دی رسول الله ﷺ چه به هر کله د سفر اراده کوله نو په خپلو ښځو باندے به ئے خسنړے اوغورځوؤ. د کومے ښځې په نوم چه به خسنړے رااووتو هغه به ئے د ځان سره د سفر ملګرے کړه. حضرت عائشه وائی پس رسول الله خسنړے اوغورځوؤ د يو جهاد په سفر کښې نو په هغې کښې څما نوم رااوتلو نو د رسول الله ﷺ سره لاړم او دا د هغه وخت ذکر دے هر کله چه د پردے حکم نازل شوے وو. زۀ په خپله کجاوه کښې کيښناستم او په لاره کښې چه هر کله مونږ آرام کولو نو هم به زۀ په هغه کجاوه کښې ناسته وم. هر کله چه رسول الله ﷺ د جهاد نه فارغ شو او مونږ واپس مدينې ته نزدے شو نو يو خل حضرت ﷺ د شپے د سفر حکم اوکړو نو زۀ پاڅيدم هر کله چه خلقو د سفر خبر اوکړو او لاړم (غالبًا د حاجت دپاره) تردے چه د لښکر نه مخکښې لاړم. هر کله چه د خپل کار نه فارغه شوم نو د خپلے کجاوے په طرف راغلم او سينے ته چه مے لاس وروړو نو معلومه شوه چه څما هار د ظفار د غومېريوتے دے (ظفار يو کلے دے په يمن کښې) زۀ د

الْجَيْشَ فَلَمَّا قَضَيْتُ مِنْ شَأْنِي أَقْبَلْتُ
إِلَى الرَّحْلِ فَلَمَسْتُ صَدْرِي فَإِذَا عِقْدِي
مِنْ جَزْعِ ظَفَارِ قَدِ انْقَطَعَ فَرَجَعْتُ
فَالْتَمَسْتُ عِقْدِي فَحَبَسَنِي ابْتِغَاؤُهُ
وَأَقْبَلَ الرَّهْطُ الَّذِينَ كَانُوا يَرْحَلُونَ لِي
فَحَمَلُوا هَوْدَجِي فَرَحَلُوهُ عَلَى بَعِيرِي
الَّذِي كُنْتُ أَرْكَبُ وَهُمْ يَحْسِبُونَ أَنِّي فِيهِ
قَالَتْ وَكَانَتِ النِّسَاءُ إِذْ ذَاكَ خِفَافًا لَمْ
يُهَبَّلْنَ وَلَمْ يَغْشَهُنَّ اللَّحْمُ إِنَّمَا يَأْكُلْنَ
الْعُلْقَةَ مِنَ الطَّعَامِ فَلَمْ يَسْتَنْكِرِ الْقَوْمُ ثِقَلَ
الْهَوْدَجِ حِينَ رَحَلُوهُ وَرَفَعُوهُ وَكُنْتُ
جَارِيَةً حَدِيثَةَ السِّنِّ فَبَعَثُوا الْجَمَلَ
وَسَارُوا وَوَجَدْتُ عِقْدِي بَعْدَ مَا اسْتَمَرَّ
الْجَيْشُ فَجِئْتُ مَنَازِلَهُمْ وَلَيْسَ بِهَا دَاعٍ
وَلَا مُجِيبٌ فَتَيَمَّمْتُ مَنْزِلِي الَّذِي
كُنْتُ فِيهِ وَظَنَنْتُ أَنَّ الْقَوْمَ سَيَفْقِدُونِي
فَيَرْجِعُونَ إِلَيَّ فَبَيْنَا أَنَا جَالِسَةٌ فِي مَنْزِلِي
غَلَبَتْنِي عَيْنِي فَنِمْتُ وَكَانَ صَفْوَانُ بْنُ
الْمُعَطَّلِ السُّلَمِيُّ ثُمَّ الذَّكْوَانِيُّ قَدْ عَرَّسَ
مِنْ وَرَاءِ الْجَيْشِ فَادَّلَجَ فَأَصْبَحَ عِنْدَ
مَنْزِلِي فَرَأَى سَوَادَ إِنْسَانٍ نَائِمٍ فَأَتَانِي
فَعَرَفَنِي حِينَ رَآنِي وَقَدْ كَانَ يَرَانِي قَبْلَ أَنْ
يُضْرَبَ الْحِجَابُ عَلَيَّ فَاسْتَيْقَظْتُ

هغه هار په لټون کښې واپس شوم نو د هغې په لټولو کښې حصاره شوم. او هغه خلق راغلل چا چه ځما کجاوه اوچتوله هغوی کجاوه اوچته کړه او ځما په هغه اوښ ئے کیښنوده په کومې چه به زۀ ناسته وم. هغوی به دا ګنړلی وی چه زۀ په دغه کجاوه کښې یم د هغه وخت ښځے نرۍ (خوارے) وے. څربے او غتمے نۀ وے ولے چه لږه غله به ئے خوړله ځکه هغوی ته د کجاوی بوجھ د عادت نه خلاف معلوم نۀ شو هر کله چه هغوی هغه په اوښ بار کړه اوچته ئے کړه او زۀ یوه د کم عُمر جینۍ هم وم. آخر خلقو اوښ پاڅوۀ او لاړل. او ما خپل هار هغه وخت اوموندو. هر کله چه ټول لښکر تلے وو زۀ چه څۀ وخت خپل ځائے ته راغلم نو هلته نۀ د چا آواز شته او نۀ څوك آواز اوریدلو والا شته ما دا اراده اوکړه چه چرته ناسته وم هلته به کینم او دا مے اوګنړله چه هر کله ما خلق او نۀ مومی نو واپس به دلته راشی نو زۀ هغه ځائے کښې ناسته وم چه په دے کښې ځما سترګے ورغلے او اوده شومه او صفوان بن معطل سلمی ذکوانی یو سړے وو هغه د آرام دپاره په آخر د شپے کښې د لښکر نه روستو پاتے شوے وو. هر کله چه هغه راروان شو نو سحر ځما هغه ځائے ته رااورسیدو. هغۀ ته د یو بنیادم جوثه معلومه شوه چه اوده دے. هغۀ چه ځما خواله راغے نو زۀ ئے د لیدو سره اوپیژندم ځکه چه د پردے د حکم نه مخکښې به زۀ د هغوی په مخکښې ګرځیدم. زۀ زر پاڅیدم هر کله چه هغۀ ځما په پیژندو سره اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ اووے او ما واوریدل. نو په خپل څادر سره ما خپل مخ پټ کړو. په الله قسم دے چه هغه ځما سره یوه خبره نۀ ده کړے نۀ ما د هغۀ نه یوه خبره اوریدلے ده سوا د اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ نه بیا هغۀ خپل اوښ کینوۀ او خپل لاسونه ئے ځما د

بِاسْتِرْجَاعِهِ حِينَ عَرَفَنِي فَخَمَّرْتُ وَجْهِي بِجِلْبَابِي وَ وَاللهِ مَا يُكَلِّمُنِي كَلِمَةً وَلَا سَمِعْتُ مِنْهُ كَلِمَةً غَيْرَ اسْتِرْجَاعِهِ حَتَّى أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ فَوَطِئَ عَلَى يَدِهَا فَرَكِبْتُهَا فَانْطَلَقَ يَقُودُ بِيَ الرَّاحِلَةَ حَتَّى أَتَيْنَا الْجَيْشَ بَعْدَ مَا نَزَلُوا مُوغِرِينَ فِي نَحْرِ الظَّهِيرَةِ فَهَلَكَ مَنْ هَلَكَ فِي شَأْنِي وَكَانَ الَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيِّ ابْنُ سَلُولَ فَقَدِمْنَا الْمَدِينَةَ فَاشْتَكَيْتُ حِينَ قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ شَهْرًا وَالنَّاسُ يُفِيضُونَ فِي قَوْلِ أَهْلِ الْإِفْكِ وَلَا أَشْعُرُ بِشَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ وَهُوَ يَرِيبُنِي فِي وَجَعِي أَنِّي لَا أَعْرِفُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللُّطْفَ الَّذِي كُنْتُ أَرَى مِنْهُ حِينَ أَشْتَكِي إِنَّمَا يَدْخُلُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُسَلِّمُ ثُمَّ يَقُولُ كَيْفَ تِيكُمْ فَذَاكَ يَرِيبُنِي وَلَا أَشْعُرُ بِالشَّرِّ حَتَّى خَرَجْتُ بَعْدَ مَا نَقَهْتُ وَخَرَجَتْ مَعِي أُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ الْمَنَاصِعِ وَهُوَ مُتَبَرَّزُنَا وَلَا نَخْرُجُ إِلَّا لَيْلًا إِلَى لَيْلٍ وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ نَتَّخِذَ الْكُنُفَ قَرِيبًا مِنْ بُيُوتِنَا وَأَمْرُنَا أَمْرُ الْعَرَبِ الْأُوَلِ فِي التَّنَزُّهِ وَكُنَّا نَتَأَذَّى بِالْكُنُفِ أَنْ نَتَّخِذَهَا عِنْدَ بُيُوتِنَا

ختو دپاره خواره کړل زۀ په اوښ باندے سوره شوم او هغه اوښ نیولے وو او د اوښ نه مخکښې پیدل روان وو. تردے پورے چه مونږ لښکر ته رااورسیدو. او د لښکر خلق کوز شوی وو د سختے غرمے په ګرمۍ کښې. نو څما په مقدمه کښې تباه شول هغه خلق چه تباه شوی وو (یعنې چا چه بدګمانی اوکړه) او په قران کښې د هغوی په نسبت تَوَلّٰی کِبْرَہ راغلے دے. یعنې جوړونکے او لګونکے د هغه تهمت عبد الله بن ابی بن سلول (منافق علیه اللعنة) وو. آخر مونږ مدینے ته راغلو او هر کله چه زۀ مدینے ته رااورسیدم نو بیماره شوم د یو ے میاشتے پورې بیماره ووم. او د خلقو دا حال وو چه د بهتان لګونکو په خبرو کښې ئے غور کولو. او ما ته د هغوی د یو ے خبرے خبر نۀ وو. صرف ما ته دد ے خبرے نه شك وو چه رسول الله ﷺ ما پخپله بیمارۍ کښې په هغه شفقت او نۀ لیدو کوم چه به ئے مخکښې په ما باند ے کوؤ. څما د بیمارۍ په حالت کښې به حضرت ﷺ صرف دننه راغے او سلام به ئے اوکړو او بیا به ئے اوفرمائیل دا ښځه څنګه ده. صرف دد غے خبرے نه ما ته شك وو لیکن دد ے خرابۍ نه خبره نۀ وم. تردے پورے چه زۀ ډیره کمزورے شوم د بیمارۍ د لرے کیدونه پس. نو زۀ رااووتم او څما سره د مسطح مور هم د مناصع په طرف رااووته (مناصع د مدینے نه بهر یو ځائے وو) او هغه زمونږه خلقو پائخانے وے (د پائخانو جوړیدو نه مخکښې) مونږ خلق به نۀ راوتو مګر د شپے تر بلے شپے پورے او دا ذکر د هغه وخت دے هر کله چه زمونږ د کورونو په خوا کښې پائخانے نۀ وے جوړے شوے او مونږ په د ړومبو عربو پشان ځنګل ته تلل (د پائخانے دپاره) او د کور په خواه کښې د پاخانے جوړولو نه به مونږ نفرت کولو. نو زۀ لازم

فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأُمُّ مِسْطَحٍ وَهِيَ بِنْتُ أَبِي
رُهْمِ بْنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ وَأُمُّهَا
ابْنَةُ صَخْرِ بْنِ عَامِرٍ خَالَةُ أَبِي بَكْرٍ
الصِّدِّيقِ وَابْنُهَا مِسْطَحُ بْنُ أُثَاثَةَ بْنِ عَبَّادِ
بْنِ الْمُطَّلِبِ فَأَقْبَلْتُ أَنَا وَبِنْتُ أَبِي رُهْمٍ
قِبَلَ بَيْتِي حِينَ فَرَغْنَا مِنْ شَأْنِنَا فَعَثَرَتْ
أُمُّ مِسْطَحٍ فِي مِرْطِهَا فَقَالَتْ تَعِسَ
مِسْطَحٌ فَقُلْتُ لَهَا بِئْسَ مَا قُلْتِ أَتَسُبِّينَ
رَجُلًا قَدْ شَهِدَ بَدْرًا قَالَتْ أَيْ هَنْتَاهْ أَوَلَمْ
تَسْمَعِي مَا قَالَ قُلْتُ وَمَاذَا قَالَ قَالَتْ
فَأَخْبَرَتْنِي بِقَوْلِ أَهْلِ الْإِفْكِ فَازْدَدْتُ
مَرَضًا إِلَى مَرَضِي فَلَمَّا رَجَعْتُ إِلَى بَيْتِي
فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ كَيْفَ تِيكُمْ قُلْتُ
أَتَأْذَنُ لِي أَنْ آتِيَ أَبَوَيَّ قَالَتْ وَأَنَا حِينَئِذٍ
أُرِيدُ أَنْ أَتَيَقَّنَ الْخَبَرَ مِنْ قِبَلِهِمَا فَأَذِنَ لِي
رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُ
أَبَوَيَّ فَقُلْتُ لِأُمِّي يَا أُمَّتَاهْ مَا يَتَحَدَّثُ
النَّاسُ فَقَالَتْ يَا بُنَيَّةُ هَوِّنِي عَلَيْكِ فَوَاللَّهِ
لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ قَطُّ وَضِيئَةٌ عِنْدَ
رَجُلٍ يُحِبُّهَا وَلَهَا ضَرَائِرُ إِلَّا كَثَّرْنَ عَلَيْهَا
قَالَتْ قُلْتُ سُبْحَانَ اللَّهِ وَقَدْ تَحَدَّثَ
النَّاسُ بِهَذَا قَالَتْ فَبَكَيْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ

او د مسطح مور خما سره وه. چه هغه لور وه د ابی رهم بن مطلب بن عبد مناف او د هغې مور د صخر بن عامر لور وه. چه د حضرت ابوبکر صدیق رض ترور وه (د هغې نوم سلمٰی وو) د هغې د خوئ نوم مسطح بن اثاثه بن عباد بن مطلب وو. غرض دا چه زهٔ او أم مسطح دواړه چه د خپل کار نه فارغ شو نو د خپل کور په طرف واپس راروانې وو چه په دې کښې د مسطح د مور خپه د هغې په څادر کښې اونخته او اوئې وئیل هلاك شو مسطح ما اووې تا بده خبره اوکړه ته بد وائې هغه سړی ته چه هغه د بدر په جنګ کښې شریك وو. هغې اووې اې کم عقلې تا څهٔ نهٔ دی اوریدلی چه مسطح څهٔ وئیلی دی. ما اووې ولې څهٔ ئې وئیلی دی هغې ما ته د بهتان د لګولو بیان اوکړو. چه په اوریدو ئې خما بیماری غبرګه شوه او یوه بله بیماری زیاته شوه. زهٔ چه هر کله خپل کور ته راورسیدم نو رسول الله ﷺ د ته تشریف راوړو. او اوئې فرمائیل اوس دا دې بنځې څهٔ حال دې. ما اووې تاسو ما ته اجازت راکړئ چه د خپل پلار کور ته لاړه شم او خما هغه وخت دا اراده وه چه زهٔ د خپل پلار مور خواله لاړه شم او د دې خبرې تحقیق اوکړم. آخر رسول الله ﷺ ما ته اجازت راکړو. او زهٔ د خپل پلار مور خواله راغلم ما خپلې مور ته اووې مور دا خلق څهٔ وائی؟ هغې اووې بچیه ته د دې خبرې خیال مهٔ کوه او دا لویه خبره مهٔ ګڼره. په الله قسم دې داسې ډیر کم شوی دی چه د یو سړی سره یو ښکلې ښځه وی چه هغه هغې لره غواړی. او د هغې بنې هم وی او بنې د هغې عیب نهٔ راوباسی. ما اووې سبحٰن الله! خلقو خو دا وینا شروع کړې ده. ما ټوله شپه اوژړل د سحره پورې خما اوښکې بندې نهٔ شوې نهٔ خوب راغې. سحر مې هم دغه ژړا وه. او جناب

حَتَّى أَصْبَحْتُ لَا يَرْقَأُ لِي دَمْعٌ وَلَا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ ثُمَّ أَصْبَحْتُ أَبْكِي وَدَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَأُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ حِينَ اسْتَلْبَثَ الْوَحْيُ يَسْتَشِيرُهُمَا فِي فِرَاقِ أَهْلِهِ قَالَتْ فَأَمَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فَأَشَارَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالَّذِي يَعْلَمُ مِنْ بَرَاءَةِ أَهْلِهِ وَبِالَّذِي يَعْلَمُ فِي نَفْسِهِ لَهُمْ مِنَ الْوُدِّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هُمْ أَهْلُكَ وَلَا نَعْلَمُ إِلَّا خَيْرًا وَأَمَّا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالَ لَمْ يُضَيِّقِ اللهُ عَلَيْكَ وَالنِّسَاءُ سِوَاهَا كَثِيرٌ وَإِنْ تَسْأَلِ الْجَارِيَةَ تَصْدُقْكَ قَالَتْ فَدَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَرِيرَةَ فَقَالَ أَيْ بَرِيرَةُ هَلْ رَأَيْتِ مِنْ شَيْءٍ يَرِيبُكِ مِنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَهُ بَرِيرَةُ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنْ رَأَيْتُ عَلَيْهَا أَمْرًا قَطُّ أَغْمِصُهُ عَلَيْهَا أَكْثَرَ مِنْ أَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ تَنَامُ عَنْ عَجِينِ أَهْلِهَا فَتَأْتِي الدَّاجِنُ فَتَأْكُلُهُ قَالَتْ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَاسْتَعْذَرَ مِنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيٍّ ابْنِ سَلُولَ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَا مَعْشَرَ

رسول الله ﷺ علی ؓ بن ابی طالب لره او اُسامه بن زید ؓ را اوغوښتل. خکه چه وحی نه وه راغلې. او د هغوی دواړو نه ئې مشوره واخسته خما د جدا کولو (یعنی د طلاق راکولو دپاره) اسامه بن زید ؓ خو دغه رائې ورکړه څه چه هغه ته معلوم و د رسول الله ﷺ د بی بی د حال او د هغې د عصمت او د حضرت ﷺ د محبت د هغې سره هغوی اووے یا رسول الله! عائشه ؓ ستاسو بی بی ده. او مونږ ته په دے کښې هیڅ نه دی معلوم علاوه د خیر نه. او علی ؓ بن ابی طالب اووے الله تعالی په تاسو باندے تنګی نۀ ده کړے. او د عائشې ؓ نه علاوه ښځې ډیرے دی کچرے تاسو د وینځې نه تپوس اوکړئ نو هغه به تاسو ته رښتیا اووائی (د وینځې نه مراد بریره ده چه د حضرت عائشې ؓ سره وه) حضرت عائشه ؓ وائی چه رسول الله ﷺ بریره راواوغوښته او ورته ئې اوفرمائیل اے بریره! تا چرته په عائشه ؓ کښې داسې خبره لیدلې ده چه په هغې سره تا ته د هغې په پاکدامنئ کښې شک پریوځي. بریرے اووے قسم دے په هغه ذات چا چه تۀ رښتونے پیغمبر رالیږلې ئې کچرے په دے کښې ما چرته څۀ کار د عیب لیدلې وے نو ما به بیان کړے وو. ددے نه زیات پکښې بل یو عیب نشته دے چه عائشه ؓ د کم عمر جینئ ده اوړۀ پریږدی او اوده شي نو چیلۍ راشي هغه ترے اوخوری (مطلب دا چه په دے کښې داسې یو عیب هم نشته د کوم چه تۀ تپوس کوے صرف دغه عیب چه هغه یوه ساده کم عمره جینئ ده چه د کم عمر په وجه د کور بندوبست نۀ شي کولې) حضرت عائشه ؓ وائی بیا رسول الله ﷺ په منبر باندے اودریدو او د عبد الله بن اُبی بن سلول نه ئې بدله اخستل غوښتل. حضرت ﷺ اوفرمائیل اے مسلمانانو خلقو څوک به بدله واخلی

الْمُسْلِمِينَ مَنْ يَعْذِرُنِي مِنْ رَجُلٍ قَدْ بَلَغَ أَذَاهُ فِي أَهْلِ بَيْتِي فَوَاللهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى أَهْلِي إِلَّا خَيْرًا وَلَقَدْ ذَكَرُوا رَجُلًا مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ إِلَّا خَيْرًا وَمَا كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أَهْلِي إِلَّا مَعِي فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ الْأَنْصَارِيُّ فَقَالَ أَنَا أَعْذِرُكَ مِنْهُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْأَوْسِ ضَرَبْنَا عُنُقَهُ وَإِنْ كَانَ مِنْ إِخْوَانِنَا الْخَزْرَجِ أَمَرْتَنَا فَفَعَلْنَا أَمْرَكَ قَالَتْ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَهُوَ سَيِّدُ الْخَزْرَجِ وَكَانَ رَجُلًا صَالِحًا وَلَكِنِ اجْتَهَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ فَقَالَ لِسَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللهِ لَا تَقْتُلُهُ وَلَا تَقْدِرُ عَلَى قَتْلِهِ فَقَامَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَهُوَ ابْنُ عَمِّ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فَقَالَ لِسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللهِ لَنَقْتُلَنَّهُ فَإِنَّكَ مُنَافِقٌ تُجَادِلُ عَنِ الْمُنَافِقِينَ فَثَارَ الْحَيَّانِ الْأَوْسُ وَالْخَزْرَجُ حَتَّى هَمُّوا أَنْ يَقْتَتِلُوا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ عَلَى الْمِنْبَرِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّضُهُمْ حَتَّى سَكَتُوا وَسَكَتَ قَالَتْ وَبَكَيْتُ يَوْمِي ذَلِكَ لَا يَرْقَأُ لِي دَمْعٌ وَلَا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ ثُمَّ بَكَيْتُ لَيْلَتِي الْمُقْبِلَةَ لَا يَرْقَأُ لِي دَمْعٌ وَلَا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ

خما د هغه سړی نه چه د هغهٔ سخته ضرر رسونکے خبره خما د کور والا په نسبت ما ته رااورسیده. په الله قسم دے چه زهٔ خپل کور والا (یعنی عائشه صدیقه) نیکه ګنړم او د کوم سړی سره چه دا خلق تهمت لګوی (یعنی د صفوان بن معطل سره) هغهٔ لره هم نیک ګنړم هغه چرته خما کور ته نهٔ دے راغلے مګر خما سره. ددے په اوریدو سعد بن معاذ انصاری (چه د قبیله اوس سردار وو) پاڅیدو او اوئے وئیل یا رسول الله زهٔ ستا بدله اخلمه کچرے تهمت ویونکے زمونږ د قوم اوس نه وی نو مونږ به د هغهٔ څټ اووهو او کچرے زمونږ د رونړو خزرج والا نه دے نو تاسو حکم اوکړئ ستاسو د حکم تعمیل به مونږ کوؤ (یعنی د هغهٔ څټ به وهو) ددے په اوریدو سعد بن عباده اودریدو. او هغهٔ د خزرج قبیلے سردار وو او نیک سړے وو خو په دغه وخت هغهٔ ته پخپل قوم غیرت ورغے او اوئے وئیل اے سعد بن معاذ د الله په بقا قسم دے چه تهٔ به زمونږ د قوم سړے قتل نهٔ کړے او نهٔ ئے قتلولے شے. ددے په اوریدو اُسید بن حضیر چه د سعد بن معاذ د ترهٔ خوئ وو پاڅیدو او سعد بن عباده ته ئے اووے تا غلطه اووے د الله په بقا قسم دے چه مونږ به هغه قتلوؤ او تهٔ منافق ئے ځکه تهٔ د منافقانو د طرفنه جنګیږے غرض دا چه دواړه قبیلے اوس او خزرج په یو بل پسے پاڅیدل او نږدے وه چه مرګ او جویله شروع شوے وے او رسول الله ﷺ په منبر باندے ولاړ وو. هغوی ئے پوهه کول او د هغوی غصه ئے سړوله تردے پورے چه هغه خاموش شوو او حضرت ﷺ هم خاموش پاتے شو حضرت عائشه وائی ما په هغه ورځ هم توله ورځ اوژړل خما اوښکے نهٔ اوچیدے او نهٔ خوب راتلو. بیا په دویمه شپه مے هم اوښکے اوچے نهٔ

وَأَبَوَايَ يَظُنَّانِ أَنَّ الْبُكَاءَ فَالِقٌ كَبِدِي. فَبَيْنَمَا هُمَا جَالِسَانِ عِنْدِي وَأَنَا أَبْكِي اسْتَأْذَنَتْ عَلَيَّ امْرَأَةٌ مِنَ الأَنْصَارِ فَأَذِنْتُ لَهَا فَجَلَسَتْ تَبْكِي قَالَتْ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ ثُمَّ جَلَسَ قَالَتْ وَلَمْ يَجْلِسْ عِنْدِي مُنْذُ قِيلَ لِي مَا قِيلَ وَقَدْ لَبِثَ شَهْرًا لاَ يُوحَى إِلَيْهِ فِي شَأْنِي بِشَيْءٍ قَالَتْ فَتَشَهَّدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ جَلَسَ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ يَا عَائِشَةُ فَإِنَّهُ قَدْ بَلَغَنِي عَنْكِ كَذَا وَكَذَا فَإِنْ كُنْتِ بَرِيئَةً فَسَيُبَرِّئُكِ اللهُ وَإِنْ كُنْتِ أَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِي اللهَ وَتُوبِي إِلَيْهِ فَإِنَّ الْعَبْدَ إِذَا اعْتَرَفَ بِذَنْبٍ ثُمَّ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ قَالَتْ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَالَتَهُ قَلَصَ دَمْعِي حَتَّى مَا أُحِسُّ مِنْهُ قَطْرَةً فَقُلْتُ لأَبِي أَجِبْ عَنِّي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا قَالَ فَقَالَ وَاللهِ مَا أَدْرِي مَا أَقُولُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لأُمِّي أَجِيبِي عَنِّي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ وَاللهِ مَا أَدْرِي مَا أَقُولُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

شوے او نۀ خواب راتلو. او خما د پلار او مور دا گمان وو چه په ژړا ژړا به خما زړۀ اوچوی. خما پلار مور به خما سره ناست وو او ما به ژړا په دے کښں د انصارو یوے ښځے اجازت اوغوښتو ما هغے له اجازت ورکړو. هغه هم راغله او خما سره ئے په ژړا شروع اوکړه. بیا مونږ په دغه حال کښں وو چه رسول اللهﷺ تشریف راوړي او سلام ئے اوکړو او کیښناستو. او د کومے ورځے نه چه په ما باندے تهمت وئیلے شوے وو د هغه ورځے نه د نن ورځے پورے حضرتﷺ خما سره ناست نۀ وو او یوه میاشت دغه شان تیره شوے وه چه خما په مقدمه کښں څۀ وحی نۀ وه راغلے. حضرت عائشهؓ وائی بیا رسول اللهﷺ د کیناستو سره تشهد اولوستۀ او اوئے فرمائیل. اما بعد. اے عائشے ما ته ستا د طرفنه دادے داسے خبر رارسیدلے دے. اوس کچرے تۀ پاك دامنه ئے نو زر ده چه الله پاك به ستا پاکدامنی بیان کړی. او کچرے تا گناه کړے وی. نو توبه اوباسه اوبخښنه اوغواړه د الله تعالی نه ځکه چه بنده اقرار اوکړی او بخښنه اوغواړی الله هغۀ لره بخښی. حضرت عائشهؓ وائی هر کله چه رسول اللهﷺ خپلے خبرے ختمے کړے نو خما اوښکے بالکل بندے شوی تردے پورے چه یوه قطره هم پاتے نۀ شوه. ما خپل پلار ته اووے تۀ رسول اللهﷺ ته په دے مقدمه کښں خما د طرفنه جواب ورکړه. خما پلار اووے قسم په خدائے زۀ نۀ یم خبر ولے به رسول الله ته جواب ورکوم (سبحان الله پلار خو ئے د رسول اللهﷺ عاشق وو اگر کۀ د هغۀ د لور مقدمه وه خو د رسول اللهﷺ په مخکښں ئے ساه نۀ شوه اخستے.

باوجودت زمن آواز نیامد که منم،

وَسَلَّمَ فَقُلْتُ وَأَنَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ لَا أَقْرَأُ كَثِيرًا مِنَ الْقُرْآنِ إِنِّي وَاللهِ لَقَدْ عَرَفْتُ أَنَّكُمْ قَدْ سَمِعْتُمْ بِهٰذَا حَتَّى اسْتَقَرَّ فِي نُفُوسِكُمْ وَصَدَّقْتُمْ بِهِ فَإِنْ قُلْتُ لَكُمْ إِنِّي بَرِيئَةٌ وَاللهُ يَعْلَمُ أَنِّي بَرِيئَةٌ لَا تُصَدِّقُونِي بِذٰلِكَ وَلَئِنْ اعْتَرَفْتُ لَكُمْ بِأَمْرٍ وَاللهُ يَعْلَمُ أَنِّي بَرِيئَةٌ لَتُصَدِّقُونَنِي وَإِنِّي وَاللهِ مَا أَجِدُ لِي وَلَكُمْ مَثَلًا إِلَّا كَمَا قَالَ أَبُو يُوسُفَ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ قَالَتْ ثُمَّ تَحَوَّلْتُ فَاضْطَجَعْتُ عَلَى فِرَاشِي قَالَتْ وَأَنَا وَاللهِ حِينَئِذٍ أَعْلَمُ أَنِّي بَرِيئَةٌ وَأَنَّ اللهَ مُبَرِّئِي بِبَرَاءَتِي وَلٰكِنْ وَاللهِ مَا كُنْتُ أَظُنُّ أَنْ يُنْزَلَ فِي شَأْنِي وَحْيٌ يُتْلَى وَلَشَأْنِي كَانَ أَحْقَرَ فِي نَفْسِي مِنْ أَنْ يَتَكَلَّمَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيَّ بِأَمْرٍ يُتْلَى وَلٰكِنِّي كُنْتُ أَرْجُو أَنْ يَرَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّوْمِ رُؤْيَا يُبَرِّئُنِي اللهُ بِهَا قَالَتْ فَوَاللهِ مَا رَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَجْلِسَهُ وَلَا خَرَجَ مِنْ أَهْلِ الْبَيْتِ أَحَدٌ حَتَّى أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَهُ مَا كَانَ يَأْخُذُهُ مِنَ الْبُرَحَاءِ عِنْدَ الْوَحْيِ حَتَّى إِنَّهُ لَيَتَحَدَّرُ

بیا ما خپلې مور ته اووے ته جواب ورکړه خما د طرف نه رسول الله ﷺ ته هغې اووے قسم په الله دے چه زۀ نۀ پوهیږم چه څۀ جواب ورکړم رسول الله ﷺ ته آخر ما پخپله اووے. او زۀ کم عمره جینۍ وم ما قران نه دے لوستلے لیکن په الله قسم دے زۀ پوهیږم چه تاسو خلقو دا خبره ددے پورے اوریدلې ده چه ستاسو په زړۀ کښې ځائے شوے ده. او تاسو رښتیا ګڼړلې ده (دا حضرت عائشې د غصے نه اوفرمائیل ورنه رښتیا هیڅ هم نۀ وو ګڼړلې سوا د تهمت کونکو نه) اوس کچرے زۀ تاسو ته اووایم چه زۀ بے ګناه یم او الله پوهه دے چه زۀ بے ګناه یم نو هم به تاسو ما رښتونے او نۀ ګڼړئ او کچرے زۀ د یو ګناه اقرار چه هغه ما نۀ وی کړے او الله پوهه دے چه زۀ د هغې نه پاکه یم نو تاسو به ما رښتونے اوګڼړئ. او قسم په الله دے چه زۀ خپل او ستاسو مثل سوا د یوسف د پلار نه بل نۀ مومم (حضرت عائشې ته د غم په وجه د یعقوب نوم یاد نۀ شو نو د یوسف پلار ئے اووے) هر کله چه هغوی اووے فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ یعنی اوس صبر غوره دے. او ستاسو په دے خبرو باندے د الله مدد ته ضرورت دے بیا زۀ په ډډه واوړیدم او په خپله بستره باندے اوده شوم. او په الله قسم دے چه دغه وخت ما دا ګڼړله او په دے پوهه وم چه زۀ پاکه یم الله به ضرور خما پاکوالے ظاهر کړی. لیکن په الله قسم دے چه خما دا ګمان نۀ وو چه خما په شان کښې به قران نازل شی چه هغه به (د قیامته) پورے لوستلے کیږی. ولے چه خما شان خما پخپل ګمان کښې ددے خبرے لائق نۀ وو. چه الله جل جلاله د عزت او بزرګۍ خاوند به خما په مقدمه کښې خبرے اوکړی او خبرے هم داسے چه لوستلے به شی. خامخا ما ته دا

مِنْهُ مِثْلُ الْجُمَانِ مِنَ الْعَرَقِ فِي الْيَوْمِ الشَّاتِ مِنْ ثِقَلِ الْقَوْلِ الَّذِي أُنْزِلَ عَلَيْهِ قَالَتْ فَلَمَّا سُرِّيَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَضْحَكُ فَكَانَ أَوَّلَ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا أَنْ قَالَ أَبْشِرِي يَا عَائِشَةُ أَمَّا اللهُ فَقَدْ بَرَّأَكِ فَقَالَتْ لِي أُمِّي قُومِي إِلَيْهِ فَقُلْتُ وَاللهِ لاَ أَقُومُ إِلَيْهِ وَلاَ أَحْمَدُ إِلاَّ لِلَّهِ هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ بَرَاءَتِي قَالَتْ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ عَشْرَ آيَاتٍ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ هَؤُلاَءِ الآيَاتِ بَرَاءَتِي قَالَتْ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَكَانَ يُنْفِقُ عَلَى مِسْطَحٍ لِقَرَابَتِهِ مِنْهُ وَفَقْرِهِ وَاللهِ لاَ أُنْفِقُ عَلَيْهِ شَيْئًا أَبَدًا بَعْدَ الَّذِي قَالَ لِعَائِشَةَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلاَ يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى إِلَى قَوْلِهِ أَلاَ تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ قَالَ حِبَّانُ بْنُ مُوسَى قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ هَذِهِ أَرْجَى آيَةٍ فِي كِتَابِ اللهِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَاللهِ إِنِّي لأُحِبُّ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لِي فَرَجَعَ إِلَى مِسْطَحٍ النَّفَقَةَ الَّتِي كَانَ يُنْفِقُ عَلَيْهِ وَقَالَ لاَ أَنْزِعُهَا مِنْهُ أَبَدًا قَالَتْ عَائِشَةُ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

أمید وو چه رسول الله ﷺ به په خوب کښې څۀ داسې مضمون اووینی چه په هغې سره به الله پاك خما پاکی ظاهره کړی. حضرت عائشه صدیقه فرمائی چه په الله قسم دے رسول الله ﷺ لا د خپل ځائے نه نۀ وو پاځیدلے او نۀ د کور والاؤ نه څوك بهر وتلے وو چه الله په خپل پیغمبر ﷺ باندے وحی نازله کړه او نازل ئے کړو قرآن لره حضرت ﷺ ته د وحی سختی معلومیدل شروع شو تردے پورے چه د حضرت ﷺ د بدن مبارك نه د ملغلرو پشان د خولو قطرے اوڅڅیدے د یخنۍ په موسم کښې د هغه کلام د سختۍ نه چه په هغوی نازلیدۀ. (ځکه چه د لوئے شهنشاه کلام وو) هر کله چه دا حالت د حضرت ﷺ لارو (یعنی وحی ختمه شوه) نو حضرت ﷺ په خندا شو او دا کلمه ئے د خلے نه اوویسته اوئے فرمائیل اے عائشے خوشحاله شه الله پاك تا لره بے ګناه او پاکه اوفرمائیله. خما مور ما ته اووے پاسه د حضرت ﷺ تعریف اوکړه (او شکر ادا کړه او سرئے ښکل کړه) ما اووے په الله قسم دے زۀ خو د حضرت ﷺ په طرف نۀ پاسم او نۀ د چا تعریف کوم سوا د الله نه چه هغۀ خما پاکی رااولیږله. حضرت عائشه فرمائی الله نازل کړو إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ د آخر لسو ایتونو پورے. نو الله جل شانه دے ایتونو لره خما د پاکوالی دپاره رااولیږل ابوبکر صدیق إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ اووے چه دۀ به د مسطح سره د خپلولۍ په وجه سلوك کولو په خدائے قسم دے چه اوس به زۀ دۀ لره څۀ نۀ ورکوم ځکه چه دۀ د عائشے په نسبت کښې داسې اووے. نو الله تعالی دا ایت نازل کړو وَلاَ يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ د آخره پورے. حبان بن موسی وائی چه عبد الله بن مبارك وئیلی دی چه دا

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَمْرِي مَا عَلِمْتِ أَوْ مَا رَأَيْتِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ أَحْمِي سَمْعِي وَبَصَرِي وَاللهِ مَا عَلِمْتُ إِلَّا خَيْرًا قَالَتْ عَائِشَةُ وَهِيَ الَّتِي كَانَتْ تُسَامِينِي مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَصَمَهَا اللهُ بِالْوَرَعِ وَطَفِقَتْ أُخْتُهَا حَمْنَةُ بِنْتُ جَحْشٍ تُحَارِبُ لَهَا فَهَلَكَتْ فِيمَنْ هَلَكَ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَهَذَا مَا انْتَهَى إِلَيْنَا مِنْ أَمْرِ هَؤُلَاءِ الرَّهْطِ و قَالَ فِي حَدِيثِ يُونُسَ احْتَمَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ

ایت د لوئے أمید دے د الله په کتاب کښې (ځکه چه په دے کښې الله تعالی د خپلوانو سره په نیک سلوك کولو کښې د بخشش وعده کړے ده) ابوبکرؓ اووے په الله قسم دے زهٔ دا غوارم چه الله ما اوبخښي بیا چه مسطح ته به ئے څهٔ ورکول هغه ئے جاری کړل او اوئے وئیل چه زهٔ به ئے چرته بند نهٔ کړمه حضرت عائشهؓ وائی چه رسول اللهﷺ د مؤمنانو د مور زینب بنت حجشؓ نه خما په باب کښې تپوس اوکړو چه کهٔ څهٔ هغوی ته پته وی یا هغوی لیدلی وی هغوی اووے (حالانکه بن وه) یا رسول اللهؐ زهٔ د خپلو سترګو او د غوږونو احتیاط ساتم (یعنی بے د اوریدونه یوے خبرے ته اوریدلی نهٔ وایم او بے دلیدلو نه یوے خبرے ته لیدلے نهٔ وایم) زهٔ خو عائشےؓ لره نیکه ګنړم. حضرت عائشهؓ وائی زینبؓ هم خما مقابل یوه بی بی وه د حضرتﷺ د بیبیانو نه او الله تعالی هغوی لره د هغے د پرهیز ګاری په وجه هغه بچ کړله او د هغے خور حمنه بنت جحش د هغوی دپاره تعصب اوکړو او د هغوی دپاره اوجنګیده. نو کوم خلق چه تباه شو په هغوی کښې هغه هم وه (یعنی په تهمت کښې شریکه وه) زهری وائی د هغه خلقو دا آخر حال دے چه مونږ ته رااورسیدهٔ [1].

---

[1] رسول اللهﷺ چه به هر کله د سفر اراده کوله نو خسنړے به ئے غورخوو په خپلو ښځو باندے. نوویؒ وائی دا حدیث دلیل دے د مالكؒ، شافعیؒ، احمدؒ او جمهور علماؤ چه د ښځو په باره کښې په خسنړی باندے عمل کول پکار دی. دغه شان په عتق او وصیت او قسمت کښې او په دے باب کښې ډیر احادیث صحیح او مشهور راغلی دی. ابوعبیده وائی په قرعه باندے درے پیغمبرانو عمل کړے دے یونسؑ او ذکریاؑ او محمدﷺ ابن منذرؒ وائی د خسنړی په استعمال باندے ګویا چه اجماع ده او چا چه خسنړے رد کړے دے د هغهٔ د قول څهٔ دلیل نشته او د ابوحنیفهؒ نه مشهوره داده چه قرعه باطله ده او په یو روایت کښې ئے اجازت هم دے. ابن منذرؒ وائی چه قیاس خو د قرعے خلاف دے پس قیاس ئے پریخودو په احادیث سره او په سفر کښې په ښځو کښې قرعه اچول پکار دی ورنه یوه بوتلل او بله نهٔ بوتلل جائز نهٔ دی. زمونږ دغه مذهب دے او دغه قول دے د ابوحنیفهؒ او باقی علماؤ او دغه مروی دے د مالكؒ نه او یو روایت د هغوی نه دا هم دے چه خاوند له اختیار دے کومه چه بیائی هغه بوتلے شی. انتهی مختصراً.

د اردو کتاب مترجم وائی چه د امام ابوحنیفهؒ مذهب هغه دے کوم چه د صحیح حدیث نه ثابت دے. د هغهٔ اصول دادی چه حدیث اگر که ضعیف یا مرسل یا موقوف هم وی خو هغه د قیاس نه مقدم دے. او د امام ابوحنیفهؒ مذهب چرته هم د حدیث خلاف نهٔ دے او حنفی هغه دے چه هغه په حدیث باندے چلیږی. ځکه چه د امام ابوحنیفهؒ دغه طریقه او مذهب وو الله دِ په هغوی رحم اوکړی او درجاتِ عالیه دِ ئے نصیب کړی. هغوی چرته هم دا نهٔ دی وئیلی چه د حدیث خلاف زما په قول باندے چلیږئ بلکه دا ئے وئیلی دی چه هر کله حدیث صحیح شی نو هغه زما مذهب دے.

زما په مقدمه کښې تباه شول هغه خلق چه تباه شو (یعنی بدگمانئ والا) او په قرآن کښې د هغوی په نسبت تَوَلّٰی كِبْرَه راغلے دے. یعنی بانی مبانی ددے تهمت. الله چه هر کله د عائشےؓ پاکی او عظمت په قرآن کښې بیان کړو او اوئے فرمائیل چا چه اوچت کړو دے لوئے بوجهه هغهٔ له لوئے عذاب دے. علی بن ابی طالب اووے. الله په تا باندے تنګی نهٔ ده کړے او د حضرت عائشےؓ نه سوا ښځے ډیرے وی. او کچرے تاسو د وینځے نه تپوس اوکړئ نو هغه به تاسو ته رښتیا اووائی. حضرت علیؓ چه څهٔ اووے دائے د عائشے په دشمنئ سره او نهٔ وے. ولے چه ددغه وخته پورے د هغهٔ د حضرت عائشےؓ نه څهٔ خفګان نهٔ وو. بلکه دغه صواب وو د هغوی په حق کښې. چه څوک پخپل تر مناسب ګڼړی چه رسول اللهﷺ ته عرض اوکړی ځکه چه هغوی ته پریشانی وه او د هغوی تسلی او تشفی ضروری وه.

نوویؒ وائی په دے حدیث کښې چه کوم د عائشےؓ نه روایت دے چه سعد بن معاذؓ اودریدو دا مشکله ده ولے چه سعد بن معاذؓ د غزوهٔ خندق نه پس وفات شوے دے او دا واقعه د بنی مصطلق د غزا ده چه په ۶ھ کښې شوے وه په دے باندے د ټولو اهل سیر اجماع ده. البته واقدی یواځے ددے خلاف نقل کړے دے. قاضی عیاضؒ وئیلی دی د سعد بن معاذؓ ذکر په دے روایت کښې وهم دے. او صحیح داده چه دواړه پیرے اُسید بن حضیر خبرے اترے کړے دی. او ابن عقبه وئیلی دی چه د مریسیع غزا په ۴ھ کښې وه او دغه د خندق کال دے. نو احتمال دے چه دا غزا او تهمت حدیث دواړه د خندق د غزا نه مخکښې وی. او هغه وخت سعد بن معاذ ژوندے وو په دے صورت کښې په صحیحینو کښې چه کوم د سعد بن معاذؓ ذکر دے هغه به صحیح شی انتهٰی پس نوویؒ وائی ددے حدیث نه ډیرے فائدے رااوتے. (۱) د حدیث روایت په یو جماعت سره صحیح کول او د هر یو نه یوه مبهمه ټکړه (او دا اگر چه د زهری قول دے خو اجماع کړے ده مسلمانانو د هغے په قبول باندے). (۲) د خسنړی صحیح کیدل (۳) د قرعے وجوب د سفر په وخت هر کله چه په ډیرو بیبیانو کښې د یوے تلل منظور وی (۴) قضائے سفر د مقیم ښځو دپاره نهٔ واجبیدل (۵) په سفر کښې د خپلے بی بی د خان سره بوتلل (۶) د ښځو کجاوے ته ختل (۷) د ښځو په جهاد کښې تلل (۸) د سړو خدمت کول ښځو لره په سفر کښې (۹) د لښکر سفر د امیر په حکم سره کیدل (۱۰) د ښځی قضائے حاجت له بغیر د خاوند د اجازت نه تلل (۱۱) ښځو لره په سفر کښې هار په غاړه کول (۱۲) کوم خلق چه ښځه په اوښ باندے سوره کړی هغه به د هغے سره خبرے نهٔ کوی کچرے محرم نهٔ وی (۱۳) د کم خوړلو فضیلت د ښځے دپاره (۱۴) د لښکر نه د خنو روستو پاتے کیدل (۱۵) مدد کول د هغه کوم چه پاتے شی (۱۶) حُسن ادب د پردو ښځو سره یعنی خبرے نهٔ کول او د هغوی نه مخکښې تلل (۱۷) پخپله پیدل تلل او ښځو لره سوروُل (۱۸) په دینی یا دنیاوی مصیبت باندے اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ وئیل (۱۹) د ښځے مخ پټول د پردی سړی نه اگر که هغه نیک وی (۲۰) قسم خوړل بغیر د قسم ورکولو نه (۲۱) بے د ضرورت نه بده خبره نهٔ ښکاره کول (۲۲) د خپلے بی بی سره نرمی او حسن معاشرت (۲۳) د څهٔ امر په وجه په حسن معاشرت کښې کمے کول (۲۴) د هر مریض د حال تپوس کول (۲۵) ښځی لره د یوے ملګرے سره وتل (۲۶) د خپل عزیز نه بے زاره کیدل هر کله چه هغه بده خبره اوکړی (۲۷) د اهل بدرو فضیلت (۲۸) ښځه به د خپل پلار مور کورته بغیر د خاوند د اجازت نه نهٔ ځی (۲۹) د حیرانیدو په وخت سبحن الله وئیل (۳۰) د خپل کور والاؤ نه مشوره اخستل (۳۱) د دوستانو سره د لوریدلے خبرے بحث کول کچرے د هغه سره ئے تعلق وی او بے تعلق منع دی (۳۲) د

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِمِثْلِ حَدِيْثِ يُوْنُسَ وَمَعْمَرٍ بِإِسْنَادِهِمَا وَفِيْ حَدِيْثِ فُلَيْحٍ اجْتَهَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ كَمَا قَالَ مَعْمَرٌ وَفِيْ حَدِيْثِ صَالِحٍ احْتَمَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ كَقَوْلِ يُوْنُسَ وَزَادَ فِيْ حَدِيْثِ صَالِحٍ قَالَ عُرْوَةُ كَانَتْ عَائِشَةُ تَكْرَهُ أَنْ يُسَبَّ عِنْدَهَا حَسَّانُ وَتَقُوْلُ إِنَّهُ قَالَ۔

فَإِنَّ أَبِيْ وَوَالِدَهُ وَعِرْضِيْ
لِعِرْضِ مُحَمَّدٍ مِنْكُمْ وِقَاءُ

وَزَادَ أَيْضًا قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ وَاللّٰهِ إِنَّ الرَّجُلَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُ مَا قِيْلَ لَيَقُوْلُ سُبْحَانَ اللّٰهِ فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ مَا كَشَفْتُ عَنْ كَنَفِ أُنْثَى قَطُّ قَالَتْ ثُمَّ قُتِلَ بَعْدَ ذٰلِكَ شَهِيْدًا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَفِيْ حَدِيْثِ يَعْقُوْبَ بْنِ إِبْرَاهِيْمَ مُوْعِرِيْنَ فِيْ نَحْرِ الظَّهِيْرَةِ وَقَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ مُوْغِرِيْنَ قَالَ

د زهري نه د يونس او د معمر د حديث پشان حديث مروي دے. او فليح په حديث كښې دي چه په ناپوهئ كښې گرفتار كړو دهٔ لره تعصب ځنگه چه معمر وئيلي دي او د صالح په حديث كښې دي چه تعصب دهٔ لره اوچت كړو ځنگه چه يونس وئيلي دي او د صالح په حديث كښې دا زياته ده چه عروه وئيلي دي چه حضرت عائشےؓ بد گڼړل د حسانؓ بدو لره. هغې به وئيل د حسانؓ شعر دے۔

فَإِنَّ أَبِيْ وَوَالِدَهُ وَعِرْضِيْ
لِعِرْضِ مُحَمَّدٍ مِنْكُمْ وِقَاءُ

يعني حسان كافرانو ته وائي. خما پلار او مور او خما عزت دا تول د حضرت محمد ﷺ د عزت دپاره بچ كونكي دي (مطلب دا دے چه حسانؓ د رسول الله ﷺ مداح او ثنا خوان وو. په دے ځۀ نشته بيا هم دهٔ يو قصور اوشو چه هغه د حضرت عائشے په تهمت كښې شريك وو. هغهٔ ته سزا په دنيا كښې ملاؤ شوه) حضرت عائشےؓ اووئيل. په خدائے مے دِ قسم وي هغه سړے كوم ځۀ چه ورته ؤويل شو چه د يوے ښځے پرده نۀ ده كهولاو كړے. او ددے نه روستو هغه د الله

امام خطبه لوستل د څۀ مهم امر دپاره (۳۳) د امام شكايت كول د خپل رعيت نه (۳۴) فضيلت د صفوان بن معطل (۳۵) فضيلت د سعد بن معاذؓ او د أسيد بن حضير (۳٦) فتنے لره قطع كول او غصه منع كول (۳۷) د توبے قبلول (۳۸) استشهاد كول په ايات قران سره (۳۹) مخكښې خبرے اترے مشرانو ته سپارل (۴۰) په زيرى كښې تادى كول (۴۱) برائت د حضرت عائشےؓ په نصِ قرانى سره چه څوك پكښې شك كوى نو هغه كافر مرتد دے په اجماعٔ د اهل اسلام. ابن عباس وئيلي دى د هيڅ يو پيغمبر بى بى بدكارى نۀ ده كړے (۴۲) تجديد د شكر په وخت د تجديد د نعمت (۴۳) فضيلت د حضرت ابوبكرؓ (۴۴) صله رحمي مستحب كيدل اگر كۀ هغه خلق گنهگار وى (۴۵) عفوه كول گناهگارو ته (۴٦) د صدقے استحباب (۴۷) د قسم خلاف كول كچرے په خلاف كښې نيكى وى او كفاره وركول (۴۸) فضيلت د مؤمنانو د مور زينب (۴۹) په گواهئ كښې ثابت قدمى يعنى په احتياط سره گواهى وركول (۵۰) د دوست د دوستانو سره سلوك كول لكه چه حضرت عائشےؓ د حسانؓ سره كوو خكه چه هغه د رسول الله ﷺ خير لتونكے او مدح كونكے وو. (۵۱) خطبه شروع كول د اما بعد نه (۵۲) خطبه شروع كول د الله د حمد او درود شريف نه (۵۳) د مسلمانانو غصه د خپل امام د ذلت په وخت (۵۴) متعصب ته بد وئيل لكه ځنگه چه اسيد بن حضير سعد بن عباده ته اووے. او مطلب د هغوى دا وو چه تۀ د منافقانو پشان كار كوے خكه چه تۀ د منافقانو طرفدارى كوے (انتهى مختصراً)

عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قُلْتُ لِعَبْدِ الرَّزَّاقِ مَا قَوْلُهُ مُوغِرِينَ قَالَ الْوَغْرَةُ شِدَّةُ الْحَرِّ

پهٔ لار کښې شهید شو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا ذُكِرَ مِنْ شَأْنِي الَّذِي ذُكِرَ وَمَا عَلِمْتُ بِهِ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيبًا فَتَشَهَّدَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ أَشِيرُوا عَلَيَّ فِي أُنَاسٍ أَبَنُوا أَهْلِي وَايْمُ اللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى أَهْلِي مِنْ سُوءٍ قَطُّ وَأَبَنُوهُمْ بِمَنْ وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ مِنْ سُوءٍ قَطُّ وَلَا دَخَلَ بَيْتِي قَطُّ إِلَّا وَأَنَا حَاضِرٌ وَلَا غِبْتُ فِي سَفَرٍ إِلَّا غَابَ مَعِي وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ وَفِيهِ وَلَقَدْ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْتِي فَسَأَلَ جَارِيَتِي فَقَالَتْ وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهَا عَيْبًا إِلَّا أَنَّهَا كَانَتْ تَرْقُدُ حَتَّى تَدْخُلَ الشَّاةُ فَتَأْكُلَ عَجِينَهَا أَوْ قَالَتْ خَمِيرَهَا شَكَّ هِشَامٌ فَانْتَهَرَهَا بَعْضُ أَصْحَابِهِ فَقَالَ اصْدُقِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَسْقَطُوا لَهَا بِهِ فَقَالَتْ سُبْحَانَ اللَّهِ وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهَا إِلَّا مَا يَعْلَمُ الصَّائِغُ عَلَى تِبْرِ الذَّهَبِ الْأَحْمَرِ وَقَدْ بَلَغَ الْأَمْرُ ذَلِكَ الرَّجُلَ الَّذِي قِيلَ لَهُ فَقَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَاللَّهِ مَا كَشَفْتُ عَنْ كَنَفِ أُنْثَى قَطُّ

د حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دے وائی چه هر کله خلقو خما پشان کښې هغه اووے چه څهٔ ئے ووئیل او زهٔ په هغې باندے خبر نهٔ وم. نو رسول الله ﷺ خطبې لوستلو ته اودریدو او تشهد ئے اولوستو او د الله تعریف او د هغهٔ صفت ئے بیان کړو څنګه چه د هغهٔ سره ښائی. بیائے اووے اما بعد! مشوره راکړئ ما له د هغه خلقو په باره کښې چه هغوی تهمت لګولے دے خما په کور والاؤ باندے په الله قسم دے چه زهٔ خو په خپل کور والا کښې هیڅ قسم بدوالے نهٔ ګنړم. او د کوم سړی سره چه دوی تهمت لګولے دے د هغهٔ نه هم هیڅ قسم بدوالے ما نهٔ دے لیدلے. او نهٔ چرته هغهٔ خما کور ته راغلے دے مګر په هغه وخت چه زهٔ کور یم او هر کله چه زهٔ په سفر لاړم هغه هم خما سره لاړه او بیان ئے کړه ټوله قصه د حدیث. په دی کښې دادی چه رسول الله ﷺ خما کور ته راغے او خما د وینځے نه ئے تپوس اوکړو خما د حال. هغې اووے په الله قسم دے په عائشه کښې څهٔ عیب نهٔ دے لیدلے. البته دا عیب خو دے چه هغه اوده شی او چیلئ راشی او اوړهٔ ترے اوخوری یا خمیره ترے اوخوری. د حضرت څنې صحابؤ رضی الله عنهم هغه اورټله او ورته ئے اووے رښتیا اووایه رسول الله ﷺ ته تر دے پورے چه صفا ئے اووئیله هغې ته (دا واقعه د تهمت یائے سخت سست اووے هغې ته) هغې اووے سُبْحٰنَ الله په الله قسم دے چه زهٔ خو عائشه رضی الله عنها داسے ګنړم لکه زرګر چه خالص د سرو زرو ټکړے لره پیژنی (یعنی بے عیبه) دا خبر هغه سړی ته اورسیدهٔ د چا سره چه ئے تهمت تړلو. هغهٔ اووے سبحٰن الله ما د هیڅ یوے ښځے کپړهٔ هم چرته نهٔ ده کھولاؤ کړے. حضرت

قَالَتْ عَائِشَةُ وَقُتِلَ شَهِيدًا فِي سَبِيلِ اللهِ وَفِيهِ أَيْضًا مِنَ الزِّيَادَةِ وَكَانَ الَّذِينَ تَكَلَّمُوا بِهِ مِسْطَحٌ وَحَمْنَةُ وَحَسَّانُ وَأَمَّا الْمُنَافِقُ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيٍّ فَهُوَ الَّذِي كَانَ يَسْتَوْشِيهِ وَيَجْمَعُهُ وَهُوَ الَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ وَحَمْنَةُ

بَابُ بَرَاءَةِ حَرَمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الرِّيبَةِ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يُتَّهَمُ بِأُمِّ وَلَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ اذْهَبْ فَاضْرِبْ عُنُقَهُ فَأَتَاهُ عَلِيٌّ فَإِذَا هُوَ فِي رَكِيٍّ يَتَبَرَّدُ فِيهَا فَقَالَ لَهُ عَلِيٌّ اخْرُجْ فَنَاوَلَهُ يَدَهُ فَأَخْرَجَهُ فَإِذَا هُوَ مَجْبُوبٌ لَيْسَ لَهُ ذَكَرٌ فَكَفَّ عَلِيٌّ عَنْهُ ثُمَّ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ لَمَجْبُوبٌ مَا لَهُ ذَكَرٌ

عائشے صدیقهؓ وائی بیا هغه سړے د الله په لاره کښې شهید شو. په دے روایت کښې دومره زیاته ده چه په تهمت کونکو کښې مسطح وو او حمنه وه او حسان وو او منافق عبد الله بن أبی هغه خو به په کنستوکنستو دا خبره راویستله او بیا به ئے هغے لره جمع کوله هغه بانی مبانی وو او حمنه (بنت جحش)

باب: د حضرت ﷺ د وینځے د برائت او د عصمت بیان

د انسؓ نه روایت دے چه د یو سړی سره به خلقو تهمت لګولو د حضرت ﷺ د حرم سره (یعنی د رسول الله ﷺ د أم ولد وینځے سره) رسول الله ﷺ حضرت علیؓ ته اوفرمائیل چه لاړ شه او د هغه سړی څټ اووهه (کیدے شی هغه منافق وو یا په بله څۀ وجه سره د قتل لائق وو) حضرت علیؓ په هغۀ پسے لاړو نو څۀ ګوری چه هغه د یخیدو دپاره په یو کوهی کښې غسل کوی. حضرت علیؓ هغۀ ته اووے راأوځه. هغه خپل لاس د حضرت علیؓ په لاس کښې ورکړو نو هغوی را بهر کړو چه اوئے لیدو نو د هغۀ عضو تناسل کټ شوے وو. حضرت علیؓ او نۀ وژلو او واپس د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ﷺ هغه خو مجبوب دے (یعنی ذکر کټ کړے شوے)، د هغۀ ذکر نشته دے (نو حضرت علیؓ دا اوګنړله چه حضرت ﷺ د زنا په خیال سره دۀ د قتل حکم ورکړے دے. په دے وجه هغوی قتل نۀ کړو. او کیدے شی چه حضرت ﷺ ته په وحی سره معلومه شوے وه چه هغه به قتل نۀ کړے شی. خو حضرتؐ د قتل حکم ورکړو د دے دپاره چه د هغۀ حال ښکاره شی او خلق پخپل تهمت باندے ستومانه شی او دروغ د هغوی ښکاره شی)

كِتَابُ صِفَاتِ الْمُنَافِقِينَ وَأَحْكَامِهِمْ

د منافقانو د صفاتو او د هغوی حکمونه

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ يَقُولُ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ أَصَابَ النَّاسَ فِيهِ شِدَّةٌ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيٍّ لِأَصْحَابِهِ لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا مِنْ حَوْلِهِ قَالَ زُهَيْرٌ وَهِيَ قِرَاءَةُ مَنْ خَفَضَ حَوْلَهُ وَقَالَ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ قَالَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ بِذَلِكَ فَأَرْسَلَ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيٍّ فَسَأَلَهُ فَاجْتَهَدَ يَمِينَهُ مَا فَعَلَ فَقَالَ كَذَبَ زَيْدٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَوَقَعَ فِي نَفْسِي مِمَّا قَالُوهُ شِدَّةٌ حَتَّى أَنْزَلَ اللهُ تَصْدِيقِي إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ قَالَ ثُمَّ دَعَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَسْتَغْفِرَ لَهُمْ قَالَ فَلَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَقَوْلُهُ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ وَقَالَ كَانُوا

د زید بن ارقم نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کښې اووتو چه په هغې کښې خلقو ته ډیر تکلیف شو (د خوړلو او څښلو) عبدالله بن أبی (منافق) خپلو ملګرو ته اووے تاسو د رسول الله ﷺ په خوا کښې خلقو ته څۀ مۀ ورکوئ ترد ے پورے چه هغوی د حضرت ﷺ د خوانه اوتښتی. زهیر وائی دا قرائت د هغه سړی چه هغه مِنْ حَوْلِه لوستلے دے (او دغه قرائت مشهور دے او قرائت شاذ مَنْ حَوْلَه دے یعنی ترد ے پورے چه اوتښتی هغه خلق چه د حضرت ﷺ نه چاپیره دی) او عبد الله بن أبی اووے کچرے مونږ مدینے ته واپس شو نو خامخا به عزت والا (مردود عزت والا خپل ځان ته وئیلو) اوباسی ذلت والا له (مردود رسول الله ﷺ ته ذلت والا اووے) زۀ د دے په اوریدو د رسول الله ﷺ خواله راغلم او حضرت ﷺ ته مے د (مردود دا خبره) بیان کړه. حضرت ﷺ په عبد الله بن أبی پسے قاصد اولیږۀ او د هغۀ نه ئے تپوس اوکړو د دے خبرے هغۀ قسم اوخوړو چه ما داسے نۀ دی وئیلی او اوئے وئیل چه زید رسول الله ﷺ ته دروغ وئیلی دی په دے خبره څما زړۀ ډیر خفه شو ترد ے پورے چه الله زۀ رښتونے کړم او سورة إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ نازل شو. بیا رسول الله ﷺ هغه رااوغوښتو د مغفرت د دعا د پاره لیکن هغه خپل سر واړوو (یعنی راتغے) او الله تعالی د هغۀ په حق کښې اوفرمائیل كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ. ګویا هغه لرګی دی دیوال ته

رِجَالًا أَجْمَلَ شَيْءٍ

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْرَ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيٍّ فَأَخْرَجَهُ مِنْ قَبْرِهِ فَوَضَعَهُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَنَفَثَ عَلَيْهِ مِنْ رِيقِهِ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ وَاللهُ أَعْلَمُ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيٍّ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ حُفْرَتَهُ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ سُفْيَانَ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ جَاءَ ابْنُهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ أَنْ يُعْطِيَهُ قَمِيصَهُ يُكَفِّنُ فِيهِ أَبَاهُ فَأَعْطَاهُ ثُمَّ سَأَلَهُ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَقَامَ عُمَرُ فَأَخَذَ بِثَوْبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَتُصَلِّي عَلَيْهِ وَقَدْ نَهَاكَ اللهُ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَقَالَ

اودرولی شوے. زید وائی هغه خلق په ظاهر کښ نرم او ښۀ معلومیدل[1]

د جابر ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د عبد الله بن أبي قبر له راغے (هر کله چه هغه ښخ شوے وو) هغه ئے د قبر نه راوویستو او په خپلو زنګونانو ئے کېښودو او خپلے لاړے ئے پرے واچولے او خپله قمیص ئے ورته واغوستۀ

د جابر بن عبد الله ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د عبد الله بن أبي په کنده کښ د غورځولو نه پس هلته لاړۀ. پس (مخکښ) د سفیان د حدیث (یعنی د پورتنی حدیث) پشان بیان کړو

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے هر کله چه عبد الله بن أبي مړ شو نو د هغۀ ځوئ عبد الله بن عبد الله د رسول الله ﷺ خواله راغے (هغه رښتونے مسلمان وو) او د حضرت ﷺ قمیص ئے د حضرت ﷺ نه د خپل پلار د کفن دپاره اوغوښتۀ. حضرت ﷺ ورته قمیص ورکړو. بیا هغه د مانځۀ د کولو دپاره اووے. رسول الله ﷺ پاڅیدو په هغۀ باندے د مونځ کولو دپاره. حضرت عمر ؓ د حضرت ﷺ کپړه اونیوه او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله تاسو په دۀ باندے مونځ کوئ او الله تعالی تاسو لره منع کړے ده په دۀ باندے د مونځ کولو نه (ځکه چه الله تعالی فرمائیلی دی سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَهُمْ یعنی کۀ ته ددۀ دپاره دُعا کوے یا نۀ کوے

[1] الله تعالی د هغوی په شان کښ فرمائی هر کله چه ته هغوی ته اوګورے نو پتا به ښه اولګی بدن د هغوی غبرګ یعنی تازه او ښاریۀ دی. ددے حدیث نه د زید فضیلت معلوم شو. او دا هم معلومه شوه چه په رعیت کښ څوك داسے خبره واوری چه په هغے کښ د مسلمانانو ضرر وی نو امام ته د وائی.

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا خَيَّرَنِي اللهُ فَقَالَ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لاَ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً وَسَأَزِيدُهُ عَلَى سَبْعِينَ قَالَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلاَ تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ

دواړه برابر دي الله تعالى دۀ لره هيڅ کله نۀ بخښي، رسول الله ﷺ اوفرمائيل ما له اختيار راکړےدے اوفرمائيلي دي کچرے تۀ ددوی دپاره اويا خله استغفار او کړے هم نے نۀ بخښي. نو زۀ به د اويا خله نه زيات استغفار اوکړمه. حضرت عمرؓ اووے بشکه دے منافق وو. آخر حضرت ﷺ په هغۀ باندے مونځ د جنازے اوکړو پس الله ؓ دا ائت نازل کړو چه مۀ کوه مونځ په دوی کښې په هيڅوا باندے (يعنې د منافقانو نه په هيڅ يو منافق باندے) هر کله چه هغه مړ شي چرته هم او نۀ اودريږے د هغۀ په قبر باندے[1].

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهٰذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَزَادَ قَالَ فَتَرَكَ الصَّلاَةَ عَلَيْهِم

د عبيد اللهؒ نه په دے اسناد سره روايت دے او دا زياته ده چه بيا رسول الله ﷺ مونځ کول په منافقانو پريخودل.

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ اجْتَمَعَ عِنْدَ الْبَيْتِ ثَلاَثَةُ نَفَرٍ قُرَشِيَّانِ وَثَقَفِيٌّ أَوْ ثَقَفِيَّانِ وَقُرَشِيٌّ قَلِيلٌ فِقْهُ قُلُوبِهِمْ كَثِيرٌ شَحْمُ بُطُونِهِمْ فَقَالَ أَحَدُهُمْ أَتُرَوْنَ اللهَ يَسْمَعُ مَا نَقُولُ وَقَالَ الآخَرُ يَسْمَعُ إِنْ جَهَرْنَا وَلاَ يَسْمَعُ إِنْ أَخْفَيْنَا وَقَالَ الآخَرُ إِنْ كَانَ يَسْمَعُ إِذَا جَهَرْنَا فَهُوَ يَسْمَعُ إِذَا أَخْفَيْنَا فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ

د ابن مسعودؓ نه روايت دے وائي چه د بيت الله په خوا کښې درے سړي يو ځائے شو په هغوی کښې دوه د قريشو وو او يو د ثقيف وو يا دوه ثقيف وو او يو د قريشو وو د هغوی په زړونو کښې پوهه کمه وه او په ګيډو نے وازده ډيره وه (ددے نه معلومه شوه چه د غټ والی سره هوښيارتيا کميږی) يو کس د هغوی نه اووے آيا تۀ خبر نے چه الله تعالى اوری هغه څۀ چه مونږ نے وايو . هغه دويم اووے کچرے مونږ په زوره وايو نو اوری او کۀ په پټه وايو نو نۀ اوری. او هغه دريم اووے کچرے هغه په زوره وينا اوری نو پټه به هم اوری. پس الله تعالى دا ائت نازل کړو ' وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ د آخره پورے . يعنې څکه نۀ

[1] الله تعالى د حضرت عمرؓ د رائے مطابق حکم ورکړو نوويؒ وائي. حضرت ﷺ خبر وو چه دا منافق دے خو هغوی د هغۀ د خوئ په خاطر دا تول کارونه اوکړل او څنے وائي چه عبد الله بن أبي حضرت عباسؓ له قميص ورکړے وو حضرت ﷺ څکه دۀ ته خپله کُرته ورکړه چه د منافق احسان پاتے نۀ شي.

سَمْعَكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ الْآيَةَ

شي پټولے تاسو چه پټاسو باندے به ګواهي ورکوي غوږونه او سترګے او څرمنے ستاسو (لیکن ستاسو دا خیال دے چه الله نۀ دے خبر په ډیرو کارونو چه تاسو ئے کوئ)

عَنْ عَبْدِ اللهِ نَحْوَهُ

د عبد الله نه د پورتنی حدیث پشان روایت دے.

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى أُحُدٍ فَرَجَعَ نَاسٌ مِمَّنْ كَانَ مَعَهُ فَكَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِمْ فِرْقَتَيْنِ قَالَ بَعْضُهُمْ نَقْتُلُهُمْ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا فَنَزَلَتْ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ

د زید بن ثابت نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د جنګ أحد دپاره راووتو. او څو تنه سري د هغوی د ملګرتیا نه واپس شو. (هغه منافقان وو) د رسول الله ﷺ صحابه د هغوی په مقدمه کښې دوه فرقې شول. څنو اووے چه مونږ دوی لره قتلوؤ او څنو اووے چه نۀ ئے قتلوؤ. پس الله تعالی دا آیت نازل کړو. (ترجمه) ستاسو څۀ حال دے د منافقانو په باره کښې چه تاسو دوه فرقې شوے. د آخره پورے.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د شعبه نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رِجَالًا مِنَ الْمُنَافِقِينَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوا إِذَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْغَزْوِ تَخَلَّفُوا عَنْهُ وَفَرِحُوا بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَذَرُوا إِلَيْهِ وَحَلَفُوا وَأَحَبُّوا أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَنَزَلَتْ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِنَ الْعَذَابِ

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه څۀ منافقان د رسول الله ﷺ په زمانه کښې داسے وو چه هر کله به حضرت ﷺ غزا له تلو نو هغه به روستو پاتے کیدل او د حضرت ﷺ په خلاف کښې به د کور په ناسته خوشحالیدل. پس هر کله چه به حضرت ﷺ واپس راغے نو عذر به ئے هغوی ته کوؤ او قسمونه به ئے خوړل. او دا به ئے غوښتل چه خلق د هغوی تعریف اوکړی په هغه کارونو کښې چه دوی نۀ وی کړی. پس الله تعالی دا آیت نازل کړو: ګمان دے نۀ کوی هغه چه خوشحالیږی په خپلو کړو او غواړی چه تعریف د اوشی د هغه کارونو چه دوی نۀ دی کړی چه هغوی به خلاصے اومومی د عذاب نه.

عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ مَرْوَانَ قَالَ اذْهَبْ يَا رَافِعُ

د حمید بن عبد الرحمٰن بن عوف نه روایت دے چه مروان خپل دربان رافع ته اووے چه د ابن عباس خواله لاړ شه او ورته اووایه

لِبَوَّابِهِ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْ لَئِنْ كَانَ كُلُّ امْرِئٍ مِنَّا فَرِحَ بِمَا أَتَى وَأَحَبَّ أَنْ يُحْمَدَ بِمَا لَمْ يَفْعَلْ مُعَذَّبًا لَنُعَذَّبَنَّ أَجْمَعُونَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مَا لَكُمْ وَلِهَذِهِ الْآيَةِ إِنَّمَا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِي أَهْلِ الْكِتَابِ ثُمَّ تَلَا ابْنُ عَبَّاسٍ وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ هَذِهِ الْآيَةَ وَتَلَا ابْنُ عَبَّاسٍ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ سَأَلَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ فَكَتَمُوهُ إِيَّاهُ وَأَخْبَرُوهُ بِغَيْرِهِ فَخَرَجُوا قَدْ أَرَوْهُ أَنْ قَدْ أَخْبَرُوهُ بِمَا سَأَلَهُمْ عَنْهُ وَاسْتَحْمَدُوا بِذَلِكَ إِلَيْهِ وَفَرِحُوا بِمَا أَتَوْا مِنْ كِتْمَانِهِمْ إِيَّاهُ مَا سَأَلَهُمْ عَنْهُ

کچرے زموږ نه هر هغه سړی ته عذاب وی چه هغه په خپلو کړو باندے خوشحالیږی او غواړی چه خلق دِ د هغهٔ تعریف اوکړی په هغه خبره کښې چه هغه هغهٔ نهٔ وی کړے. نو موږ ټولو ته به عذاب وی (ځکه چه په موږ ټولو کښې به دا عیب موجود وی) ابن عباسؓ اووے ستاسو ددے ایت سره څهٔ تعلق دے دا ایت خو د اهل کتابو په حق کښې نازل دے. بیا ابن عباسؓ دا ایت اولوستو. وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ د آخره پورے. بیائے دا ایت اولوستهٔ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا . ابن عباسؓ وائی رسول اللهﷺ د اهل کتابو نه د یوے خبرے تپوس اوکړو. هغوی هغه خبره پټه کړه او د هغے په ځائے ئے بله خبره اوښوده. بیا رااووتل په داسے حال کښې چه حضرتﷺ ته ئے دا اوښودله چه موږ اوښوده حضرتﷺ ته هغه خبره د کومے چه حضرتﷺ تپوس کړے وو او د خپل تعریف غوښتونکی شو د حضرتﷺ نه او په زړهٔ کښې خوشحاله شول په خپلو کړو باندے (یعنی په اصل خبره پټولو باندے د کومے چه حضرتﷺ ددوی نه پښتنه کړے وه. نو الله تعالی هغوی ته فرمائی چه دوی ته به عذاب وی. او مراد هغه اهل کتاب دی)

عَنْ قَيْسٍ قَالَ قُلْتُ لِعَمَّارٍ أَرَأَيْتُمْ صَنِيعَكُمْ هَذَا الَّذِي صَنَعْتُمْ فِي أَمْرِ عَلِيٍّ أَرَأْيًا رَأَيْتُمُوهُ أَوْ شَيْئًا عَهِدَهُ إِلَيْكُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا عَهِدَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا لَمْ يَعْهَدْهُ إِلَى النَّاسِ كَافَّةً وَلَكِنْ حُذَيْفَةُ أَخْبَرَنِي عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى

د قیسؓ نه روایت دے وائی چه ما د عمار بن یاسرؓ نه تپوس اوکړو (عمار بن یاسرؓ په جنګ صفین کښې د حضرت علیؓ په طرف وو) تا چه د حضرت علیؓ په مقدمه کښې (د هغهٔ ملګرتیا اوکړه او د معاویهؓ سره اوجنګیدے) دا ستا خپله رائے ده یا تاته رسول اللهﷺ په دے باره کښې څهٔ فرمائیل وو. عمارؓ اووے رسول اللهﷺ موږ ته یوه خبره داسے نهٔ ده فرمائیلے چه هغه ئے نورو عامو خلقو ته نهٔ وی فرمائیلی. لیکن حضرت حذیفهؓ ما ته بیان کړے دے چه رسول

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَصْحَابِي اثْنَا عَشَرَ مُنَافِقًا فِيهِمْ ثَمَانِيَةٌ لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ثَمَانِيَةٌ مِنْهُمْ تَكْفِيكَهُمُ الدُّبَيْلَةُ وَأَرْبَعَةٌ لَمْ أَحْفَظْ مَا قَالَ شُعْبَةُ فِيهِمْ

عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ قُلْنَا لِعَمَّارٍ أَرَأَيْتَ قِتَالَكُمْ أَرَأْيًا رَأَيْتُمُوهُ فَإِنَّ الرَّأْيَ يُخْطِئُ وَيُصِيبُ أَوْ عَهْدًا عَهِدَهُ إِلَيْكُمْ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقَالَ مَا عَهِدَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا لَمْ يَعْهَدْهُ إِلَى النَّاسِ كَافَّةً وَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ إِنَّ فِي أُمَّتِي قَالَ شُعْبَةُ وَأَحْسِبُهُ قَالَ حَدَّثَنِي حُذَيْفَةُ وَقَالَ غُنْدَرٌ أُرَاهُ قَالَ فِي أُمَّتِي اثْنَا عَشَرَ مُنَافِقًا لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدُونَ رِيحَهَا حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ثَمَانِيَةٌ مِنْهُمْ تَكْفِيكَهُمُ الدُّبَيْلَةُ سِرَاجٌ مِنَ النَّارِ يَظْهَرُ فِي أَكْتَافِهِمْ حَتَّى يَنْجُمَ مِنْ صُدُورِهِمْ

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ كَانَ بَيْنَ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْعَقَبَةِ وَبَيْنَ حُذَيْفَةَ بَعْضُ مَا يَكُونُ بَيْنَ النَّاسِ فَقَالَ أَنْشُدُكَ بِاللهِ كَمْ كَانَ أَصْحَابُ الْعَقَبَةِ قَالَ فَقَالَ لَهُ الْقَوْمُ أَخْبِرْهُ إِذْ سَأَلَكَ قَالَ كُنَّا نُخْبَرُ

الله ﷺ ما ته بیان کړے دے چه خما په صحابؤ کښې دولس منافقان دی. په هغوی کښې به اته جنت ته نه ځی تردے پورے چه اوښ د ستنے په سوری کښې ننوځی (یعنی د هغوی جنت ته تلل محال دی) او اته وو د هغوی ته به د بیله د بیله پوره شی (د بیله دا نه یا د مل) او د څلورو په باب کښې اسود وائی (چه دا دے حدیث راوی دے) ما ته یاد نه دی چه شعبه څه اووے.

د قیس بن عبادؓ نه روایت دے چه مونږ عمار بن یاسر ته اووے چه ستاسو دا جنګ پخپله رائے دے. ځکه چه رائے خو کله غلطیږی هم. او کله صحیح هم، یا رسول الله ﷺ تاسو ته په دے باره کښې څه فرمائیلے دی. نو هغوی اووے چه رسول الله ﷺ مونږ ته څه خبره نه ده فرمائیلے چه نورو خلقو ته ئے نه وی فرمائیلے او هغوی اووے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه خما په امت کښې به دولس منافقان وی چه جنت ته به نه ځی او نه به د هغے خوشبوئی راکاږی تردے پورے چه اوښ تیر شی په سوم د ستنے کښې. اته به په هغوی کښې غټه دانه ختم کړی. یعنی یو د اُور چراغ به د هغوی په متو کښې پیدا شی د هغوی سینے به په شو کولو رااوباسی (یعنی په هغے کښې به انګاره وی لکه چه اُور ډیوه ئے پکښې ایخے وی. الله دِ امان راکړی)

د ابوالطفیل نه روایت دے وائی چه د عقبه په خلقو کښې د یو سړی او حذیفه په مینځ کښې څه جهګړه وه لکه څنګه چه په خلقو کښې وی هغهٔ اووے زهٔ تا الله قسم درکوم چه اصحب عقبه څومره وو. خلقو حذیفه ته اووے چه هر کله هغهٔ تپوس اوکړی نو اوښایه ئے ورته هغوی اووے مونږ ته خبر راکړے شوے دے (د رسول الله ﷺ نه)

أَنَّهُمْ أَرْبَعَةَ عَشَرَ فَإِنْ كُنْتَ مِنْهُمْ فَقَدْ كَانَ الْقَوْمُ خَمْسَةَ عَشَرَ وَأَشْهَدُ بِاللهِ أَنَّ اثْنَيْ عَشَرَ مِنْهُمْ حَرْبٌ لِلهِ وَلِرَسُولِهِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الأَشْهَادُ وَعَذَرَ ثَلَاثَةً قَالُوا مَا سَمِعْنَا مُنَادِيَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا عَلِمْنَا بِمَا أَرَادَ الْقَوْمُ وَقَدْ كَانَ فِي حَرَّةٍ فَمَشَى فَقَالَ إِنَّ الْمَاءَ قَلِيلٌ فَلَا يَسْبِقْنِي إِلَيْهِ أَحَدٌ فَوَجَدَ قَوْمًا قَدْ سَبَقُوهُ فَلَعَنَهُمْ يَوْمَئِذٍ

چه هغه ستانه علاوه، څوارلس سړی دی کچرے ته هم د هغوی نه ئے نو پنځلس دی. او زهٔ قسمیه وایم چه د هغوی نه دولس خو د الله او د هغهٔ د رسول په دنیا او آخرت کښې دشمنان دی. او باقی دریوؤ دا عذر اوکړو (هر کله چه د هغوی نه تپوس اوکړے شو او ملامته کړے شو) چه مونږ خو د رسول الله ﷺ د منادی آواز (چه د عقبه په لارے مهٔ راځئ) هم نهٔ دے اوریدلے. او نهٔ د دے قوم د ارادے نه خبر یو او (هغه وخت) رسول الله ﷺ په سنګستان کښې وو. بیا روان شو او اوئے فرمائیل (چه په مخکښې پړاؤ کښې) لږ اوبهٔ دی نو څما نه مخکښې د یو سړے اوبو له نهٔ ورځی. هر کله چه حضرت ﷺ هلته تشریف یوړلو) نو څهٔ (منافقانو) هلته رسیدلی وو. حضرت ﷺ په هغوی باندے په دغه ورځ لعنت اوفرمائیلو[1].

---

[1]: اهل عقبه د منافقانو یو جماعت وو. چه هغوی پیغمبر ﷺ ته د غزوهٔ تبوك نه د واپس کیدو په وخت په خپلو کښې اتفاق کړے وو چه د شپے په وخت د عقبے په مقام به په رسول الله ﷺ حمله اوکړو چه حضرت ﷺ به د سورلئ نه اوچت کړو او د کمر لاندے به اوغورځوؤ ختم به شی او زمونږ حال به چا ته معلوم نهٔ شی. هر کله چه رسول الله ﷺ هغه کنډؤ ته اورسیدو نو الله خپل رسول د منافقانو د مکر نه خبر کړو په دغه وخت حضرت ﷺ یو سړی ته حکم اوکړو چه په ټولو کښې چغه اووهه چه د عقبے په لاره د څوك نهٔ راځي او بطنِ وادی چه پلنه او آسانه لار ده په هغې د لاړ شی ټول خلق د حضرت ﷺ د ارشاد مطابق د بطن وادئ په لاره روان شو او حضرت ﷺ د عمار او حذیفه او حمزه بن عمر اسلمی سره د عقبه لار واخسته. عمار د حضرت ﷺ نه مخکښې مخکښې روان وو او حذیفه روستو روستو منافقانو د رسول الله ﷺ د حکم تعمیل او نهٔ کړو او د عقبه د لارے نه په فاسده اراده نا څاپه حضرت ﷺ ته اورسیدو رسول الله ﷺ ته د هغوی د رسیدو خبر راغے حذیفه ته ئے ارشاد اوفرمائیلو چه د هغوی د سورلو خُلے اووهه. حذیفه په لاس کښې لرګے واخستو او د هغوی د سورلو خُلے بې وهلے اوفرمائیل به ئے لرے شئ لرے شئ د الله دشمنانو! منافقان پوهه شو چه زمونږ مکر رسول الله ﷺ ته ښکاره شو واپس شو او په بطنِ وادی کښې د نورو صحابؤ سره میلاؤ شو. حضرت ﷺ د هغه منافقانو نومونه او د هغوی د پلارانو نومونه حذیفه ته ښودلی وو حذیفه چونکه د حضرت ﷺ راز دار وو. هغه ئے ټول پیژندل لیکن د رسول الله ﷺ راز ئے نهٔ ښکاره کولو کچرے ته هم د هغوی نه ئے نو پنځلس شو اشارتًا ئے هغه پوهه کړو چه ته هم د هغوی نه ئے. لیکن په ښکاره ئے او نهٔ وے چه په دے کښې د رسول الله د راز ښکاره کیدل وو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَصْعَدُ الثَّنِيَّةَ ثَنِيَّةَ الْمُرَارِ فَإِنَّهُ يُحَطُّ عَنْهُ مَا حُطَّ عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ صَعِدَهَا خَيْلُنَا خَيْلُ بَنِي الْخَزْرَجِ ثُمَّ تَتَامَّ النَّاسُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُلُّكُمْ مَغْفُورٌ لَهُ إِلَّا صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ فَأَتَيْنَاهُ فَقُلْنَا لَهُ تَعَالَ يَسْتَغْفِرْ لَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَاللهِ لَأَنْ أَجِدَ ضَالَّتِي أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِي صَاحِبُكُمْ قَالَ وَكَانَ رَجُلٌ يَنْشُدُ ضَالَّةً لَهُ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی خوك چه د مرار په کنډو باندے خیژی هغه ته گناه داسے معاف کیږی لکه بنی اسرائیلو ته چه معاف شوے وه. جابرؓ وائی د ټولو نه مخکښې په هغه کنډو باندے زمونږه اسونه اوختل یعنی د خزرج قبیلے د خلقو بیا خلق په مخه شروع شو. رسول اللهﷺ اوفرمائیل ستاسو نه د هر یو بخښش شوے دے مگر د سور اوښ والا نهٔ دے شوے. مونږ د هغه سړی خواله لاړو او ورته مو اووے لاړ شه چه رسول اللهﷺ تا ته د مغفرت دُعا اوکړی. هغهٔ اووے قسم په الله دے چه زهٔ خپل ورك شوے څیز او مومم نو خما زیاته خوښه ده ستاسو د صاحب د دُعا نه. جابرؓ وائی هغه سړی خپل ورك شوے څیز لټولو (هغه سړے منافق وو ځکه خو حضرتﷺ اوفرمائیل چه ددهٔ مغفرت نهٔ دے شوے. او دا د حضرتﷺ معجزه ده ځنگه چه حضرتﷺ فرمائیلی وو هغه سړے هم هغه شان اوختو)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَصْعَدُ ثَنِيَّةَ الْمُرَارِ أَوِ الْمَرَارِ بِمِثْلِ حَدِيثِ مُعَاذٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَإِذَا هُوَ أَعْرَابِيٌّ جَاءَ يَنْشُدُ ضَالَّةً لَهُ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ اوفرمائیل خوك چه د مُرار یا مَرار په کنډو اوخیژی (مخکښې حدیث) د معاذ د حدیث پشان دے. مگر په دے کښې دی چه جابرؓ اووے چه هغه یو بانده چے ئے اولیدهٔ چه خپل ورك شوے څیز ئے کتلو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ مِنَّا رَجُلٌ مِنْ بَنِي النَّجَّارِ قَدْ قَرَأَ الْبَقَرَةَ وَآلَ عِمْرَانَ وَكَانَ يَكْتُبُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقَ هَارِبًا حَتَّى لَحِقَ بِأَهْلِ الْكِتَابِ قَالَ فَرَفَعُوهُ قَالُوا هَذَا قَدْ كَانَ يَكْتُبُ لِمُحَمَّدٍ فَأُعْجِبُوا بِهِ فَمَا لَبِثَ أَنْ قَصَمَ اللهُ عُنُقَهُ فِيهِمْ فَحَفَرُوا لَهُ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے چه یو سړے زمونږ د قوم بنی نجار نه وو چه هغه سوره بقره او آل عمران لوستلے وو. او هغه به د رسول اللهﷺ دپاره لیکل کول. بیا هغه اوتختیدو او د اهل کتابو سره یو ځائے شو. هغوی هغهٔ لره اوچت کړو او اوئے وئیل چه دا د رسول اللهﷺ منشی وو. د هغهٔ په میلاویدو سره هغه خلق خوشحاله شو. بیا الله تعالی لږے ورځے پس هغه هلاك کړو. هغوی د هغهٔ دپاره

فَوَارَوْهُ فَأَصْبَحَتِ الْأَرْضُ قَدْ نَبَذَتْهُ عَلَى وَجْهِهَا ثُمَّ عَادُوا فَحَفَرُوا لَهُ فَوَارَوْهُ فَأَصْبَحَتِ الْأَرْضُ قَدْ نَبَذَتْهُ عَلَى وَجْهِهَا ثُمَّ عَادُوا فَحَفَرُوا لَهُ فَوَارَوْهُ فَأَصْبَحَتِ الْأَرْضُ قَدْ نَبَذَتْهُ عَلَى وَجْهِهَا فَتَرَكُوهُ مَنْبُوذًا

قبر اوکنستو او خخ ئے کړو سحر له څۀ ګوری چه د هغۀ لاش بهر پروت دے. هغوی بیا اوکنستو او خخ ئے کړو بیا چه ئے سحر اوکتل نو لاش ئے بهر پروت وو. بیائے اوکنستو او خخ ئے کړو. بیا سحر چه ئے اوکتل نو هغه لاش زمکے بهر راغورځولے وو آخر هغه ئے دغه شان پروت پریخودو.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَلَمَّا كَانَ قُرْبَ الْمَدِينَةِ هَاجَتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ تَكَادُ أَنْ تَدْفِنَ الرَّاكِبَ فَزَعَمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثَتْ هٰذِهِ الرِّيحُ لِمَوْتِ مُنَافِقٍ فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَإِذَا مُنَافِقٌ عَظِيمٌ مِنَ الْمُنَافِقِينَ قَدْ مَاتَ

د جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د سفر نه راروان وو. هر کله چه مدینے ته را نږدے شو نو زور داره وا اوچلیده. داسے زورداره چه سوارۀ په زمکه کښې ډوبیدو ته نږدے شو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا هوا د چا منافق د مرګ دپاره چلیږی. هر کله چه حضرت ﷺ مدینے ته رااورسیدو نو یو لوئے منافق د منافقانو نه مړ شوے وو. (دا د حضرت ﷺ یوه معجزه وه)

عَنْ إِيَاسٍ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ عُدْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مَوْعُوكًا قَالَ فَوَضَعْتُ يَدِي عَلَيْهِ فَقُلْتُ وَاللهِ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ رَجُلًا أَشَدَّ حَرًّا فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَشَدَّ حَرًّا مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ هٰذَيْنِكَ الرَّجُلَيْنِ الرَّاكِبَيْنِ الْمُقَفِّيَيْنِ لِرَجُلَيْنِ حِينَئِذٍ مِنْ أَصْحَابِهِ

د ایاس نه روایت دے وائی چه حدیث بیان کړے دے ما ته څما پلار سلمه بن اکوع وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د یو سړی تپوس له لاړو چه په هغۀ تبه راغلے وه. نو خپل لاس ما په هغۀ باندے کیښودو او اومے وئیل په الله قسم دے چه ما د نن پشان یو سړے دومره سخت ګرم نۀ دے لیدلے. رسول الله ﷺ اوفرمائیل آیا زۀ تا ته د هغه سړی بیان او نۀ کړم چه هغه به د قیامت په ورځ ددۀ نه هم زیات ګرم وی. هغه دا دواړه سړی دی چه کړه شا سوارۀ روان دی دائے دوه سړو ته اوفرمائیل د خپلو صحابو نه (چه هغه منافقان وو)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الشَّاةِ

د ابن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل د منافق مثال د هغه بزے دے چه هغه په مینځ کښې د دوؤ رمو یعنی د دوؤ

الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيرُ إِلَى هٰذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هٰذِهِ مَرَّةً

کندکونو کله په یو کنډك کښې په منډه راځي او کله هغې بل کنډك ته[1]

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ تَكِرُّ فِي هٰذِهِ مَرَّةً وَفِي هٰذِهِ مَرَّةً

د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل د پورتنی حدیث پشان. مګر په دے کښې د تَعِیر په ځائی تَکِرُّ دے معنی نے یو ده.

بَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ

باب : د قیامت او د جنت او د دوزخ بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهُ لَيَأْتِي الرَّجُلُ الْعَظِيمُ السَّمِينُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ اقْرَءُوا فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د قیامت په ورځ به یو غټ خورب سړے راوستے شی چه هغه به د الله په نز د مچ د وزر برابر وزن نه وی. دا ایت ولولئ مونږ د قیامت په ورځ د هغوی دپاره څۀ وزن نه اږدو (یعنی د دنیا غټ والے مال او دولت په قیامت کښې په کار راتلو والا نه دے. هلته خو عمل پکار دے. د دے حدیث نه هم د غټ والی بد والے ثابت شو)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ جَاءَ حَبْرٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَوْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى إِصْبَعٍ وَالْأَرَضِينَ عَلَى إِصْبَعٍ وَالْجِبَالَ وَالشَّجَرَ عَلَى إِصْبَعٍ وَالْمَاءَ وَالثَّرَى عَلَى إِصْبَعٍ وَسَائِرَ الْخَلْقِ عَلَى إِصْبَعٍ ثُمَّ يَهُزُّهُنَّ فَيَقُولُ أَنَا

د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه د یهودو یو عالم د رسول الله ﷺ خواله راغے او اوئے وئیل اے محمد یا اے ابوالقاسم الله پاك به د قیامت په ورځ آسمانونه په یوه ګوته باندے اوچت کړی وی. او زمکے لره په یوه ګوته باندے او غرونو او اونو لره په یوه ګوته باندے. او اوبو او لوندے زمکے لره په یوه ګوته باندے. او ټول مخلوق لره په یوه ګوته باندے. بیا به هغه اوخوزوی او وائی به چه زۀ بادشاه یم زۀ بادشاه یم. د دے په اوریدو رسول الله ﷺ د تعجب نه

---

[1] یعنی د دهوبی د سپی په شان نۀ د کور نۀ تالاب. په دے حدیث کښې د منافق کمال مذمت ثابت شو. د مومن شان دا نۀ دے چه منافقت به کوی

الْمَلِكُ أَنَا الْمَلِكُ فَضَحِكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَجُّبًا مِمَّا قَالَ الْحَبْرُ تَصْدِيقًا لَهُ ثُمَّ قَرَأَ وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ

عَنْ مَنْصُورٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ جَاءَ حَبْرٌ مِنَ الْيَهُوْدِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ فُضَيْلٍ وَلَمْ يَذْكُرْ ثُمَّ يَهُزُّهُنَّ وَقَالَ فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ تَعَجُّبًا لِمَا قَالَ تَصْدِيقًا لَهُ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَتَلَا الْآيَةَ

مسکے شو او د هغه عالم د کلام تصدیق ئې اوکړو. بیائې دا آیت اولوستو وَمَا قَدَرُ اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ یعنی هغوی قدر اونۀ کړو د الله پاك لکه څنګه قدر چه د هغۀ سره ښایئي. او توله زمکه د هغۀ یو موټے دے د قیامت په ورځ او آواسمان به اغوند شوے وی د هغۀ په ښی لاس کښې پاك دے هغه او اوچت دے (یعنی بالا تردے) د مشرکانو د شرك نه[1].

د منصور نه په دے اسناد سره روایت دے چه د یهودو یو عالم د رسول الله ﷺ خواله راغې څنګه چه (پورته) د فضیل په حدیث کښې دی. او په دے کښې دا نشته چه بیا به ئې خوزوی. او په دے کښې دی چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدۀ، حضرت ﷺ اوخندل تردے پورے چه د حضرت ﷺ د جامے غاښونه ښکاره شو د تعجب نه د هغۀ تصدیق ئې اوکړو بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ د آخره پورے.

---

[1] دد ےحدیث نه د پروردګار جل شانه د ګوتو ثبوت راځی لکه څنګه چه د هغۀ د لاسونو ثبوت په قرآن او حدیث کښې موجود دے او پورته څو خله بیان شوی دی. چه د سلفو مذهب په دے قسم حدیثو کښې دادے چه دد ے په ظاهری معنی باندے ایمان راوړی او کیفیت ئې الله ته سپاری او د تشبیهه نه بچ پاتے وی. او مُتکلمینو ونیلی دی چه د رسول الله ﷺ مسکي کیدل دهغه عالم د مخه وه. او حضرت ﷺ د هغۀ په بد اعتقادئ حیران شو خکه چه یهود د تجسیم قائل وو او دا قول مردود دے خکه چه عبد الله بن مسعود د لوئے فقیه او پوهیدونکے صحابی وو هغوی پخپله په دے روایت کښې ونیلی دی. چه حضرت ﷺ د هغۀ د کلام تصدیق اوکړو. او کچرے حضرت ﷺ ته تجسیم منظور وے نو حضرت ﷺ به دا آیت نۀ لوستلو وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ د آخره پوری. خکه چه لکه څنګه چه د إِصْبَع یعنی ګوتې نه د تجسیم وَهم راځی دغه شان د قبضے او یمین نه هم راځی. پس ظاره ده چه دغه متکلمینو غور نۀ دے کړے او څۀ چه ئې ونیل غوښتل هغه ئې ونیلی دی. صحیح داده چه د آیاتونو او احادیثو نه نۀ د تجسیم نفی راځی او نۀ د هغې ثبوت لهٰذا په دے کښې چپ والے لازم دے او کوم صفت چه الله تعالی خپل بیان کړے دے په هغې باندے ایمان راوړل واجب دی. دغه اعتقاد زمونږ او زمونږه د مشانخو دے. او څوك چه دد ے خلاف وی د هغۀ سره مونږ د هر قسم بحث دپاره بلکه د مباهلے دپاره موجود یو. او په دے مقام کښې چه کوم امام مسلم روایتونه بیان کړی دی. په دے سره د جهیمیانو ساه اوخي.

عَنْ عَلْقَمَةَ يَقُولُ قَالَ عَبْدُ اللهِ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ إِنَّ اللهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ عَلَى إِصْبَعٍ وَالْأَرَضِينَ عَلَى إِصْبَعٍ وَالشَّجَرَ وَالثَّرَى عَلَى إِصْبَعٍ وَالْخَلَائِقَ عَلَى إِصْبَعٍ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَنَا الْمَلِكُ قَالَ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ ثُمَّ قَرَأَ وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ

د علقمهؓ نه روایت دے وائی چه عبد الله بن مسعودؓ وائی چه د اهل کتابونه یو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغی او اوئے وئیل اے ابوالقاسم الله تعالی به آسمانونه په یوه ګوته باندے کیږدی. او زمکو لره په یوه ګوته باندے. او اونے او ختے په یوه ګوته باندے. او ټول مخلوق په یوه ګوته باندے. بیا به اووائی زهٔ باشاه یم زهٔ باشاه یم. عبد اللهؓ وائی ما رسول اللهؐ اولیدو چه خندل ئے ترد ے پورے چه غابنونه مبارك ئے ښکاره شو. بیائے اوفرمائیل وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِهِمْ جَمِيعًا وَالشَّجَرَ عَلَى إِصْبَعٍ وَالثَّرَى عَلَى إِصْبَعٍ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ جَرِيرٍ وَالْخَلَائِقَ عَلَى إِصْبَعٍ وَلَكِنْ فِي حَدِيثِهِ وَالْجِبَالَ عَلَى إِصْبَعٍ وَزَادَ فِي حَدِيثِ جَرِيرٍ تَصْدِيقًا لَهُ تَعَجُّبًا لِمَا قَالَ

د اعمش نه په دے اسناد سره روایت دے مګر ددے د ټولو راویانو په حدیث کښې دی. او اونے به په یوه ګوته باندے او زمکه په یوه ګوته باندے او د جریر په حدیث کښې دا نشته چه ټول مخلوق په یوه ګوته باندے بلکه په دے کښې دی او غرونه به په یو ګوته باندے او د جریر په حدیث کښې دا زیاته ده د هغهٔ تصدیق کونکے او تعجب کونکے د هغهٔ د خبرے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ كَانَ يَقُولُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبِضُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى الْأَرْضَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَطْوِي السَّمَاءَ بِيَمِينِهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ مُلُوكُ الْأَرْضِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی به د قیامت په ورځ زمکه په مُټی کښې واخلی او آسمانونو لره به په ښی لاس کښې راواونیسی. بیا به اوفرمائی زهٔ باشاه یم د زمکے بادشاهان چرته دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطْوِي اللهُ عَزَّ وَجَلَّ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْيُمْنَى ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ ثُمَّ يَطْوِي الْأَرَضِينَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی به د قیامت په ورځ آسمانونه راغونډ کړی او په ښی لاس کښې به ئے اونیسی. بیا به اوفرمائی زهٔ بادشاه یم چرته دی زور آور چرته دی غرور کولو والا بیا به په ګس لاس سره زمکه راغونډه کړی، چه هغه د ښی لاس په مثل دے ځکه چه په بل حدیث کښې

بِشِمَالِهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ

دی چه د الله دواړه لاسونه ښی دی، بیا به اوفرمائي زۀ بادشاه یم چرته دی زور آور او چرته دی بدیٔ کولو والا.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ مِقْسَمٍ أَنَّهُ نَظَرَ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ كَيْفَ يَحْكِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْخُذُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ سَمَاوَاتِهِ وَأَرَضِيهِ بِيَدَيْهِ فَيَقُولُ أَنَا اللهُ وَيَقْبِضُ أَصَابِعَهُ وَيَبْسُطُهَا أَنَا الْمَلِكُ حَتَّى نَظَرْتُ إِلَى الْمِنْبَرِ يَتَحَرَّكُ مِنْ أَسْفَلِ شَيْءٍ مِنْهُ حَتَّى إِنِّي لَأَقُولُ أَسَاقِطٌ هُوَ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبيد الله بن مقسم نه روايت دے چه هغه عبد الله بن عمر اوليدو چه هغه څنګه نقل کولو د رسول الله ﷺ. هغوی اووے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی الله تعالی به خپل آسمانونه او زمکے په دواړو لاسونو کښ اونيسی. او فرمائی به زۀ الله يم. او حضرت ﷺ به خپلے ګوتے بندولے او بيرته کولے زۀ بادشاه يم. تردے پورے عبد الله بن عمر وائی چه ما منبر ته اوکتل چه هغه لاندے طرفته خوزيدلو. ما دا اوګڼړله چه کيدےشی هغه د رسول الله ﷺ سره اوغورځيږی[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُولُ يَأْخُذُ الْجَبَّارُ عَزَّ وَجَلَّ سَمَاوَاتِهِ وَأَرَضِيهِ بِيَدَيْهِ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ يَعْقُوبَ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے وائی چه ما رسول الله ﷺ په منبر باندے اوليدو چه فرمائيل ئے. جبار جل جلاله به خپلو آسمانونو او زمکو لره په خپلو دواړو لاسونو کښ اونيسی. بيائے بيان کړو حديث لره په دغه شان لکه چه پورته ذکر شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِي فَقَالَ خَلَقَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ وَخَلَقَ فِيهَا الْجِبَالَ يَوْمَ

د ابوهريره نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ زما لاس اونيوۀ او اوئے فرمائيل الله تعالی خاوره د خالی په ورځ پيدا کړے ده (يعنی زمکے لره)، او د اتوار په ورځ ئے پکښ غرونه پيدا کړی دی. او د ګل

---

[1] نووی وائی د حضرت ﷺ ګوتے بندول او بيرته کول د مخلوقاتو د بسط او قبض تمثيل دے نۀ د هغۀ قبض او بسط چه هغه د الله صفت دے. خکه چه د الله صفت د چا مشابه نۀ دے. لکه څنګه چه د هغۀ ذات د چا مشابه نۀ دے. انتهی مع يعنی سره د زياتوالی.

د اردو کتاب (مترجم وائی د حضرت ﷺ قبض او بسط اشاره ده د هغه امر په طرف چه د الله صفات په خپله ظاهره معنی باندے محمول دی چنانچه په بل روايت کښ دی چه حضرت ﷺ د سمع د صفت د بيان په وخت د خپلو غوږونو په طرف اشاره اوکړه. او د بصر دبيان په وخت ئے د خپلو سترګو په طرف اشاره اوکړه. ددے نه مقصد دادے چه د الله تعالی دپاره په حقيقت کښ سمع او بصر شته نۀ دا چه جهميه او معتزله او منکرين صفات چه څنګه وائی چه د سمع او بصر اطلاق جائز دے او ددے نه علم مراد دے)

الْأَحَدِ وَخَلَقَ الشَّجَرَ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَخَلَقَ الْمَكْرُوهَ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ وَخَلَقَ النُّورَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ وَبَثَّ فِيهَا الدَّوَابَّ يَوْمَ الْخَمِيسِ وَخَلَقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَام بَعْدَ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِي آخِرِ الْخَلْقِ فِي آخِرِ سَاعَةٍ مِنْ سَاعَاتِ الْجُمُعَةِ فِيمَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى اللَّيْلِ

په ورځ ئې اونې پیدا کړې دی. او د نهې په ورځ ئې د کاروبار څیزونه (لکه اوسپنه وغیره) پیدا کړې دی. او د شورو په ورځ ئې رڼړا پیدا کړې ده او د زیارت په ورځ ئې خناور خوارۀ کړې دی په زمکه کښې او حضرت آدمؑ ئې د جمعې په ورځ د مازیګر نه پس جوړ کړے دے د ټولو نه روستو په مخلوقاتو کښې د ټولو نه په آخر وخت کښې د جمعې د مازیګر نه واخله د شپې پورې آدمؑ پیدا شوے دے[1].

عَنْ حَجَّاجٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ

د حجاج نه دا حدیث مروی دے.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أَرْضٍ بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ لَيْسَ فِيهَا عَلَمٌ لِأَحَدٍ

د سهل بن سعدؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی د قیامت په ورځ به خلق جمع کولې شی په سپینه زمکه باندې چه سره شوی به وی لکه د میدې د ډوډۍ چه په هغې کښې به د څۀ شی نخښنه باقی نۀ وی (یعنی هیڅ یوه آبادی لکه کور یا مناره وغیره به پاتې نۀ شی صفا هوار میدان به شی)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ فَأَيْنَ يَكُونُ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے وائی چه ما د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو ددې چه الله تعالی فرمائیلی دی په هغه وخت چه بدله شی زمکه ددې زمکې نه علاوه او آسمان هم بدل کړے شی

---

[1] : د ګل په ورځ ئې اونه پیدا کړه نو معلومه شوه چه مخکښې اونه پیدا شوې ده نۀ میوه. ولې چه میوه او تخم خو د اونې نه پیدا کیږی او په دې باب کښې خنو یوه مستقل رساله لیکلې ده. چه پیدائش مخکښې د اونې شوے دے یا کۀ د میوې او تخم حضرت آدمؑ ئې د جمعې په ورځ د مازیګر نه پس جوړ کړو د ټولو نه آخر په مخلوقاتو کښې او د ټولو آخر په وختونو کښې د جمعې د مازیګر نه پس د شپې پورې آدم پیدا شوے دے. او دا چه کوم په ځنې روایتونو کښې راغلي دی چه د بنیادمو نه مخکښې په زمکه کښې جنات آباد وو لو ابلیس د هغوی سردار وو. نو دا ددې خلاف نۀ ده. ځکه چه الله پاک آدم د څۀ مودې پورې په جنت کښې مقیم کړے وو. په دغه موده کښې به په زمکه کښې پیریان وو. والله اعلم دویمه دا چه ددې حدیث نه دا نۀ معلومیږی چه په کومه هفته کښې زمکه پیدا شوې ده د هغه هفتې په جمعه آدم پیدا شوے دے. کیدے شی آدمؑ ډیره موده پس پیدا شوے وی. لو ددې حدیث نه دا معلومه شوه چه د آدمؑ پیدائش د جمعې په ورځ شوے دے.

النَّاسُ يَوْمَئِذٍ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ عَلَى الصِّرَاطِ

هغه وخت به خلق چرته وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل په پل صراط به وی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَكُونُ الْأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُبْزَةً وَاحِدَةً يَكْفَؤُهَا الْجَبَّارُ بِيَدِهِ كَمَا يَكْفَأُ أَحَدُكُمْ خُبْزَتَهُ فِي السَّفَرِ نُزُلًا لِأَهْلِ الْجَنَّةِ قَالَ فَأَتَى رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ بَارَكَ الرَّحْمَنُ عَلَيْكَ أَبَا الْقَاسِمِ أَلَا أُخْبِرُكَ بِنُزُلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ بَلَى قَالَ تَكُونُ الْأَرْضُ خُبْزَةً وَاحِدَةً كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَنَظَرَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكَ بِإِدَامِهِمْ قَالَ بَلَى قَالَ إِدَامُهُمْ بَالَامُ وَنُونٌ قَالُوا وَمَا هَذَا قَالَ ثَوْرٌ وَنُونٌ يَأْكُلُ مِنْ زَائِدَةِ كَبِدِهِمَا سَبْعُونَ أَلْفًا

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د قیامت په ورخ به زمکه د یوے ډوډۍ پشان شی الله تعالی به هغے لره اَلته پَلته کړی پخپل لاس سره لکه چه څوك ستاسونه په سفر کښں خپلے ډوډۍ لره اَلته کوی د جنتیانو د میلمستیا دپاره. بیا یو سړے یهودی راغے او اوئے وئیل چه پتا دِ د رحمن برکت وی ابوالقاسمه آیا زهٔ تاته اوښایم د جنتیانو خوراك د قیامت په ورخ. حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. اوښایه؛ هغهٔ اووے زمکه خو به د یوے ډوډۍ پشان شی لکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی وو. ددے په اوریدو حضرت ﷺ زمونږ په طرف اوکتل او په خندا شو تردے پورے چه غاښونه مبارك ئے ښکاره شو. هغه اووے زهٔ تاته اووایم چه د هغے سالن به څهٔ وی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. هغهٔ اووے د هغے سالن به بالام او نون وی. صحابو تپوس اوکړو بالام او نون څهٔ دے. هغهٔ اووے غوئی او مهے چه د هغے د اینے د ټکړے نه به اویا زره بنیادم خوری[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ تَابَعَنِي عَشَرَةٌ مِنَ الْيَهُودِ لَمْ يَبْقَ عَلَى ظَهْرِهَا يَهُودِيٌّ إِلَّا أَسْلَمَ

د ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے لسو یهودیانو ځما تابعداری اوکړه نو په ټوله زمکه به یو یهودی پاتے نهٔ شی مگر د مسلمان به شی ؛ یعنی کهٔ لس یهودی عالمان متابعت اوکړی نو باقی یهودیان به هم مسلمانان شی؛

[1] د قیامت په ورخ به زمکه د یوے ډوډۍ پشان شی. دا امر څهٔ د عقل خلاف نهٔ دے بلکه د عادت نه هم خلاف نهٔ دے ددے وجے نه چه اوس هم د زمکے خاوره قسم قسم میوے او غلے راتوکوی. پس کچرے ټوله زمکه د هغهٔ په قدرت سره اوړهٔ شی نو څهٔ لرے نهٔ ده.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ بَيْنَمَا أَنَا أَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرْثٍ وَهُوَ مُتَّكِئٌ عَلَى عَسِيبٍ إِذْ مَرَّ بِنَفَرٍ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ سَلُوهُ عَنِ الرُّوحِ فَقَالُوا مَا رَابَكُمْ إِلَيْهِ لَا يَسْتَقْبِلُكُمْ بِشَيْءٍ تَكْرَهُونَهُ فَقَالُوا سَلُوهُ فَقَامَ إِلَيْهِ بَعْضُهُمْ فَسَأَلَهُ عَنِ الرُّوحِ قَالَ فَأَسْكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ شَيْئًا فَعَلِمْتُ أَنَّهُ يُوحَى إِلَيْهِ قَالَ فَقُمْتُ مَكَانِي فَلَمَّا نَزَلَ الْوَحْيُ قَالَ وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے وائي چه يو خل زۀ د رسول اللهﷺ سره روان وم په يو فصل کښې. حضرتﷺ يو لرګي ته ډډه وهلے وه. په دے کښې يو څو يهوديان ميلاؤ شو. په هغوي کښې يو بل ته اووے د دوي نه د روح په باره کښې تپوس اوکړه هغه دويم اووے تا ته څۀ شك دے چه تپوس کوے. داسے نه چه هغه يوه داسے خبره اوکړي چه په تا باندے بده اولګي. هغوي بيا اووے تپوس اوکړه. آخر څۀ خلق د هغوي نه اودريدل او د حضرتﷺ نه ئے تپوس اوکړو چه روح څۀ دے؟ حضرتﷺ چپ پاتے شو او څۀ جواب ئے ور نۀ کړو. زۀ پوهه شوم چه په حضرتﷺ باندے وحي راځي. زۀ په هغه ځائے اودريدم. هر کله چه وحي نازله شوه نو حضرتﷺ دا ايت اولوستۀ وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا يعني تپوس کوي دوي ستا نه په باره د روح کښې اووايه ورته چه روح د الله يو حکم دے. او تاسو ته نۀ دے درکړے علم مګر لږ شان[1].

[1] مازريؒ وائي د روح او د نفس بحث زيات باريك دے ددے باوجود ډيرو خلقو په دے کښې خبرے کړي دي. او کتابونه ئے ليکلي دي امام ابوالحسن اشعريؒ وائي روح هغه ساه ده چه هغه په بدن کښې دننه او بهر کيږي. ابن باقلانيؒ وائي هغه د حيات او ددے د معنٰي په مينځ کښې دے. ځنے وائي چه روح يو جسم لطيف دے چه په ټول بدن او ظاهري اندامونو کښې خور شوے دے او ځنے وائي د روح حقيقت چا ته نۀ دے معلوم علاوه د الله نه. او جمهور وائي د الله علم دے او په دے کښې دغه اقوال دي کوم چه بيان شو او ځنے وائي روح وينه ده او ددے ايت نه دا نۀ دي وتلي چه د روح حقيقت معلوميدے نۀ شي. يا دا چه رسول اللهﷺ ددے په حقيقت خبر نۀ وو مګر په ايت کښې ئے ددے حقيقت نۀ دے بيان کړے خکه چه د يهودو دا عقيده وه چه کچرے د روح حقيقت حضرتﷺ بيان نۀ کړو نو نبي دے او کۀ بيان کړو نو نبي نۀ دے. پس بيان نۀ کړو دے لره الله تعالي ددے دپاره چه هغو ايمان راوړي د حضرتﷺ په نبوت باندے

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي حَرْثٍ بِالْمَدِينَةِ بِنَحْوِ حَدِيثِ حَفْصٍ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ وَكِيعٍ وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا وَفِي حَدِيثِ عِيسَى بْنِ يُونُسَ وَمَا أُوتُوا مِنْ رِوَايَةِ ابْنِ خَشْرَمٍ

د عبد الله رض روایت دے چه زهٔ د رسول الله ﷺ سره د مدینے په یو پټی کښې روان وم. څنګه چه د حفص په حدیث کښې دی مګر د وکیع راوی په حدیث کښې دی وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا او د عیسیٰ د ابن خشرم په واسطے سره چه کوم حدیث دے په هغے کښې وَمَا أُوتُوا دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَخْلٍ يَتَوَكَّأُ عَلَى عَسِيبٍ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ عَنِ الْأَعْمَشِ وَقَالَ فِي رِوَايَتِهِ وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا

د عبد الله رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په یو باغ کښې وو یو یے اونے تیږ دده لګولے وه. بیا ئے ذکر کړو څنګه چه د اعمش نه راویانو حدیث روایت کړے دے. او هغه په خپل روایت کښې وئیلی دی وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا

عَنْ خَبَّابٍ قَالَ كَانَ لِي عَلَى الْعَاصِ بْنِ وَائِلٍ دَيْنٌ فَأَتَيْتُهُ أَتَقَاضَاهُ فَقَالَ لِي لَنْ أَقْضِيَكَ حَتَّى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ إِنِّي لَنْ أَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ حَتَّى تَمُوتَ ثُمَّ تُبْعَثَ قَالَ وَإِنِّي لَمَبْعُوثٌ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ فَسَوْفَ أَقْضِيكَ إِذَا رَجَعْتُ إِلَى مَالٍ وَوَلَدٍ قَالَ وَكِيعٌ كَذَا قَالَ الْأَعْمَشُ قَالَ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي

د خباب رض نه روایت دے وائی چه په عاص بن وائل باندے څما قرضه وه. زهٔ د هغے د غوښتلو دپاره لاړم. هغهٔ اووے هیڅ کله ئی نهٔ درکوم ترڅو پورے چه تهٔ د محمد نه واپس شوے نهٔ ئے. ما اووے زهٔ خو د محمد نه د هغه وخته پورے نهٔ راګرځم څه تهٔ مړ شے او بیا راپاسے. هغهٔ اووے زهٔ چه د مرګ نه پس بیا راپاسم نو ستا قرض به ادا کړم هر کله چه ما ته خپل مال او اولاد میلاؤ شی. پس دا آیت نازل شو أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا د آخره پورے یعنی تا اولیدهٔ هغه کس چه انکار ئے کوو د آیتونو زمونږ نه اووئیل ئے چه ما ته به مال او بچی

د اردو کتاب مترجم وائی دد ے زمانے د تحقیق نه دا وتلے ده چه روح په دماغو کښې دے او په دماغو کښې درے چکئ د یو بل دپاسه ایخودے شوی دی. لکه څنګه چه په خنے غرونو باندے د ګټو تکړے د یو بل دپاسه ایخودے شوی دی. دپاسه تکړهد تولو نه لویه ده او د لاندے د تولو نه وړه ده. او روح په دغه وړه تکړه کښې دے چه د سر نه په روستو طرف کښې ده او دد ے متصل حرام مغز دے کچرے دغه تکړے ته لږه شان هم صدمه اورسی نو حیوان فوراً مړ کیږی. دغه رنګے ډاکټر او حکیم هر کله چه د مور په ګیډه کښې بچے وژل غواړی نو لږ شان له نشتر زور ورا ومنډی دد ے پوری چه هغه تکړے ته اورسی او بچے فوراً مړ شی. والله اعلم.

كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالاً وَوَلَدًا إِلَى قَوْلِهِ وَيَأْتِينَا فَرْدًا

میلاویږی خکه هغه په غیبو خبر دے یا هغه د الله تعالی نه څهٔ اقرار اخستے دے. د آخره پورے (په سوره مریم کښ)

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ وَكِيعٍ وَفِي حَدِيثِ جَرِيرٍ قَالَ كُنْتُ قَيْنًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَعَمِلْتُ لِلْعَاصِ بْنِ وَائِلٍ عَمَلاً فَأَتَيْتُهُ أَتَقَاضَاهُ

د اعمش په دے اسناد سره د وکیع د حدیث پشان روایت دے او د جریر په حدیث کښ دی چه خباب اوونیل زهٔ د جاهلیت په زمانه کښ لوهار وم. ما عاص بن وائل څهٔ کار اوکړو. بیا د هغهٔ د مزدورئ د غوښتو دپاره لاړم.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ أَبُو جَهْلٍ اللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ فَنَزَلَتْ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چه ابوجهل اووے یا الله کچرے دا قران رښتیا ستا د طرفه وی نو په مونږ باندے کتے رااووروه د اسمان نه یا سخت عذاب راکړه. دغه وخت دا ایت نازل شو وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ الخ یعنی نهٔ دے الله چه عذاب ورکړی دوی لره د کومے پورې چه تهٔ په دوی کښ ئے او نهٔ دے الله چه په عذاب کړی دوی لره او وی دوی استغفار ویونکی او څهٔ شوی دوی لره چه نهٔ په عذابوی الله دوی لره او دوی د منع کوی خلقو لره د مسجد حرام ته د راتلو نه[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ أَبُو جَهْلٍ هَلْ يُعَفِّرُ مُحَمَّدٌ وَجْهَهُ بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ قَالَ فَقِيلَ نَعَمْ فَقَالَ وَاللَّاتِ وَالْعُزَّى لَئِنْ رَأَيْتُهُ يَفْعَلُ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه ابوجهل اووے ولے محمد ﷺ خپل مخ ستاسو په مخکښ په زمکه باندے اږدی؟ خلقو اووے آو. ابوجهل اووے په لات او عزیٰ مے د قسم وی کچرے دے زهٔ په داسے حالت

[1] معاذ الله د جماعت نه یو مسلمان منع کول چه هغه د پکښ مونځ نهٔ کوی څومره لوئے گناه ده په داسے گناه باندے د الله د عذاب نازلیدو یره ده. زمونږ په دے وخت کښ ځنے د نوم مسلمانان داسے لیونی شوی دی چه په لږ لږ اختلاف باندے یو بل د جماعتونو د راتلو او په هغے کښ د مونځ کولو نه منع کوی او جماعت د الله کور د خپل پلار نیکهٔ د ملکیت خیال کوی. دغه مسلمان د الله نه نهٔ شرمیږی چه یهود او نصاریٰ په گرجا کښ د مونځ کولو نه څوك نهٔ منع کوی. او دے خپلو رونړو لره منع کوی. د الله غضب دے په هغوی باندے.

ذٰلِكَ لَأَطَأَنَّ عَلٰى رَقَبَتِهِ أَوْ لَأُعَفِّرَنَّ وَجْهَهُ فِي التُّرَابِ قَالَ فَأَتَى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي زَعَمَ لِيَطَأَ عَلٰى رَقَبَتِهِ قَالَ فَمَا فَجِئَهُمْ مِنْهُ إِلَّا وَهُوَ يَنْكُصُ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَيَتَّقِي بِيَدَيْهِ قَالَ فَقِيْلَ لَهُ مَا لَكَ فَقَالَ إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهُ لَخَنْدَقًا مِنْ نَارٍ وَهَوْلًا وَأَجْنِحَةً فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ دَنَا مِنِّي لَاخْتَطَفَتْهُ الْمَلَائِكَةُ عُضْوًا عُضْوًا قَالَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَا نَدْرِي فِي حَدِيْثِ أَبِي هُرَيْرَةَ أَوْ شَيْءٌ بَلَغَهُ كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغٰى أَنْ رَآهُ اسْتَغْنٰى إِنَّ إِلٰى رَبِّكَ الرُّجْعٰى أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهٰى عَبْدًا إِذَا صَلّٰى أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَى الْهُدٰى أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوٰى أَرَأَيْتَ إِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى يَعْنِي أَبَا جَهْلٍ أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللهَ يَرٰى كَلَّا لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ كَلَّا لَا تُطِعْهُ زَادَ عُبَيْدُ اللهِ فِي حَدِيْثِهِ قَالَ وَأَمَرَهُ بِمَا أَمَرَهُ بِهِ وَزَادَ ابْنُ عَبْدِ الْأَعْلٰى فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ يَعْنِي قَوْمَهُ

کښې اووينم (يعنې په سجده کښې) نو زۀ به دده څټ په خپو کښې دَل کړم يا به ورله مخ په خاؤرو کښې سپيرۀ کړم. بيا هغه د رسول الله ﷺ خواله راغے حضرت ﷺ مونځ کولو. په دے اراده چه د حضرت ﷺ څټ مبارک په خپو اومږم. خلقو اوليدۀ چه ناڅاپه ابوجهل په پوندو واپس شو او په لاس کښې ئې د څۀ څيز نه ځان بچ کوو. خلقو ترے تپوس اوکړو دا پتا څۀ اوشو؟ هغۀ اووے ما اوليدۀ چه خما او د محمد ﷺ په مينځ کښې د اُور يو خندق دے او توره ده او لاسونه دی (د فرښتو لاسونه وو) رسول الله ﷺ اوفرمائيل کچرے هغه ماله نزدے راغلے وے نو فرښتو به هغه اندام اندام کړے وو. پس الله تعالى دا آيت نازل کړو. كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ الخ يعنې هيڅ کله نه، بنيادم شرارت کوی ددے وجے نه چه خپل ځان امير گڼړی. آخر ستا د رب په طرف تالره تلل دی. اے تااوليدۀ هغه کس لره چه منع کوی بنده لره د مانځۀ نه (معاذ الله څوك چه يو مسلمان لره منع کوی د مانځۀ نه هغه ابوجهل دے) اے گورے تۀ کچرے وی هغه بنده په لارو وے او حکم ئې کولے، نو دے څۀ گڼړی که چرے دۀ دروغ اوگڼړل او مخ ئې وارړو. په دے نۀ پوهيږی چه الله گوری هر گز نه کچرے دے منع نه شو (د خپل بدو کارونو نه) مونږ به دۀ لره پر مخ راکاږو او دۀ تندے دروغژن دے گنهگار. هغه د رااوغواړی خپل قوم. نږدے ده مونږ به فرښتے رااوغواړو. هر گز ددۀ خبره اونۀ منې. په آيت کښې د نَادِيَ مراد قوم دے (يا ملگری چه په ملگرتيا اوسی)

عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عَبْدِ اللهِ جُلُوْسًا وَهُوَ مُضْطَجِعٌ بَيْنَنَا فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ إِنَّ

د مسروق نه روايت دے وائی چه مونږ د عبد الله بن مسعود رضی سره ناست وو او هغه دۀهه وهلے وه په مونږ کښې. چه په دے کښې يو سړے راغے او اوئې وئيل اے ابو

قَاصًّا عِنْدَ أَبْوَابِ كِنْدَةَ يَقُصُّ وَيَزْعُمُ أَنَّ آيَةَ الدُّخَانِ تَجِيءُ فَتَأْخُذُ بِأَنْفَاسِ الْكُفَّارِ وَيَأْخُذُ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ كَهَيْئَةِ الزُّكَامِ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ وَجَلَسَ وَهُوَ غَضْبَانُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا اللهَ مَنْ عَلِمَ مِنْكُمْ شَيْئًا فَلْيَقُلْ بِمَا يَعْلَمُ وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلِ اللهُ أَعْلَمُ فَإِنَّهُ أَعْلَمُ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يَقُولَ لِمَا لَا يَعْلَمُ اللهُ أَعْلَمُ فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ لِنَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا رَأَى مِنَ النَّاسِ إِدْبَارًا فَقَالَ اللَّهُمَّ سَبْعٌ كَسَبْعِ يُوسُفَ قَالَ فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْجُلُودَ وَالْمَيْتَةَ مِنَ الْجُوعِ وَيَنْظُرُ إِلَى السَّمَاءِ أَحَدُهُمْ فَيَرَى كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ فَأَتَاهُ أَبُو سُفْيَانَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّكَ جِئْتَ تَأْمُرُ بِطَاعَةِ اللهِ وَبِصِلَةِ الرَّحِمِ وَإِنَّ قَوْمَكَ قَدْ هَلَكُوا فَادْعُ اللهَ لَهُمْ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ يَغْشَى النَّاسَ هَذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ إِلَى قَوْلِهِ إِنَّكُمْ عَائِدُونَ

عبدالرّحمن یو بیان کونکے د کنده په دروازه کښې بیان کوی او وائی چه په قرآن کښې چه کوم د لوګی آیت دے دا لوګےراتلونکے دے او د کافرانو ساه به واخلی او مسلمانانو ته به د هغےنه د زکام کیفیت پیدا شی. ددے په اوریدو عبد الله بن مسعودؓ په غصه کښې کیښناستو او اوئے وئیل اے خلقو! د الله نه اویریږئ ستاسو نه چه څوک په یوه خبره پوهیږی نو کوی دے. او په کومےچه نۀ پوهیږی نو داسے د وائی چه الله ښه پوهه دے. ځکه چه د علم دغه خبره ده چه په کومه خبره ستاسو نه څوك نۀ پوهیږی د هغے دپاره د الله اعلم وائی . الله جل شانه خپل نبی ﷺ ته اوفرمائیل اووایه تۀ اے محمد ﷺ زۀ څۀ مزدوری نه غواړم او نه زۀ څۀ تکلف کوم رسول الله ﷺ چه هر کله د خلقو دا کیفیت اولیدو چه دوی په پوهه کولو سره نۀ منی نو اوئےفرمائیل اےالله په دوی باندے اووۀ کاله قحط راوله لکه څنګه چه د یوسفؑ په زمانه کښې قحط راغلے وو. آخر په قریشو باندے قحط راغے چه هر څیز ئے اوخوړو تردے پورے چه څرمنے او مردارے ئے هم د لوږے نه اوخوړے. او هر یو سړی د هغوی نه چه به د اسمان په طرف کتل نو د لوګی پشان به ورته ښکاریدۀ. بیا ابوسفیان د رسول الله ﷺ خواله راغے او اوئے وئیل. اے محمدؐ! تۀ د الله د اطاعت او د صله رحمئ حکم کوے او ستا قوم خو تباه شو. د هغوی دپاره د الله تعالی نه دُعا اوغواړه. الله تعالی ورته اوفرمائیل فَارْتَقِبْ الخ چه پس انتظار کوه د هغه ورځے چه

قَالَ أَفَيُكْشَفُ عَذَابُ الْآخِرَةِ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى إِنَّا مُنْتَقِمُونَ فَالْبَطْشَةُ يَوْمَ بَدْرٍ وَقَدْ مَضَتْ آيَةُ الدُّخَانِ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَآيَةُ الرُّومِ

راوړی اسمان لوګے ظاهر چه پټ به کړی خلقو لره او دا عذاب درد ناك دے تردے پورے چه اوئے فرمائیل مونږ عذاب موقوف کونکی یو، په دے ایت کښې کچرے د آخرت عذاب مراد وے نو هغۀ چرته موقوف کیږی، بیا الله تعالی فرمائی په کومه ورځ چه نیول اوکړو نیول لوئی بیشکه مونږه بدل اخستونکی یو. نو دغه نیولو نه مراد د بدر نیول دی او دا نخښې یعنی لوګے، او نیول او لزام او د روم نخښې خو تیرے شوے[1]

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ جَاءَ إِلَى عَبْدِ اللهِ رَجُلٌ فَقَالَ تَرَكْتُ فِي الْمَسْجِدِ رَجُلًا يُفَسِّرُ الْقُرْآنَ بِرَأْيِهِ يُفَسِّرُ هٰذِهِ الْآيَةَ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ قَالَ يَأْتِي النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ دُخَانٌ فَيَأْخُذُ بِأَنْفَاسِهِمْ حَتّٰى يَأْخُذَهُمْ مِنْهُ كَهَيْئَةِ الزُّكَامِ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ مَنْ عَلِمَ عِلْمًا فَلْيَقُلْ بِهِ وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلْ اللهُ أَعْلَمُ مِنْ فِقْهِ الرَّجُلِ أَنْ يَقُولَ لِمَا لَا عِلْمَ لَهُ بِهِ اللهُ أَعْلَمُ إِنَّمَا كَانَ هٰذَا أَنَّ

د مسروق نه روایت دے چه د عبد الله ؓ خواله یو سړے راغے او اوئےوئیل چه ما په جماعت کښې یو سړے پریخودۀ چه د قران تفسیر ئے په رائے کولو هغه ددے ایت یَوْمَ تَأْتِي الخ تفسیر کوی چه د قیامت په ورځ به په خلقو یو لوګے راشی چه ددوی ساه به اودروی. تردے پورے چه د بعضو به د زکام په شان شی. عبد الله اوئیل چا چه علم وی نو وائی دے او چا ته چه علم نۀ وی نو هغۀ وئیل پکار دی چه الله ښۀ پوهیږی. ځکه د انسان د دین د پوهے تقاضا ده چه د کوم څیز دۀ ته علم وی نو اود وائی اللهُ أَعْلَمُ. واقعه دا ده چه هر کله

[1] نو دا د هغه واعظ جهالت وو چه لوګی لره ئےراتلونکے نخښے ګڼرلے د لزام نه مراد هغه دے کوم چه په دے ایت کښې دے د لزام نه مراد هغه دے کوم چه په دے ایت کښې دے. فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا یعنی عذاب به په هغوی لازم وی. او مراد ترے د بدر د هغه ورځے قتل او قید دےاو دغه بطشه کبری دےاو د روم نخښے هغه ده کومه چه په الٓمّٓ غُلِبَتِ الرُّومُ کښې ذکر ده دا هم د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې اوشوله. هر کله چه د روم فارسیان غالب او نصرٰی مغلوب شوی وو. نصارا ؤ لره په ایران باندے غالب کړل.

قُرَيْشًا لَمَّا اسْتَعْصَتْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا عَلَيْهِمْ بِسِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ فَأَصَابَهُمْ قَحْطٌ وَجَهْدٌ حَتَّى جَعَلَ الرَّجُلُ يَنْظُرُ إِلَى السَّمَاءِ فَيَرَى بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ مِنَ الْجَهْدِ وَحَتَّى أَكَلُوا الْعِظَامَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اسْتَغْفِرِ اللهَ لِمُضَرَ فَإِنَّهُمْ قَدْ هَلَكُوا فَقَالَ لِمُضَرَ إِنَّكَ لَجَرِيءٌ قَالَ فَدَعَا اللهَ لَهُمْ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَائِدُونَ قَالَ فَمُطِرُوا فَلَمَّا أَصَابَتْهُمُ الرَّفَاهِيَةُ قَالَ عَادُوا إِلَى مَا كَانُوا عَلَيْهِ قَالَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ يَغْشَى النَّاسَ هَذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى إِنَّا مُنْتَقِمُونَ قَالَ يَعْنِي يَوْمَ بَدْرٍ

قریشو د حضرت ﷺ نافرمانی اوکړه نو حضرت ﷺ په هغوی باندے د قحط راوستۀ دُعا اوغوښته لکه څنګه چه د حضرت یوسف په زمانه کښں قحط راغلے وو. آخر هغو په قحط او تنګئ کښں راګیر شو. بنده چه به د آسمان په مینځ کښں خلا د لوږی پشان ډکه شوے ده. تردے پورې چه هغوی د هډوکو پورے هم اوخوړل. بیا یو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ! دُعا اوکړئ د قبیله مضر دپاره هغه خو تباه شو. حضرت ﷺ اوفرمائیل د مضر دپاره تا لوئے جرأت اوکړو بیا حضرت ﷺ د هغوی دپاره دُعا اوکړه. پس الله تعالی دا آیت نازل کړو. إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ الخ یعنی چه مونږ د لږو ورځو دپاره عذاب موقوف کوؤ بیا به هغه کار کوئ. راوی وائی په هغوی باندے اوبۀ اووریدے . هر کله چه لږ شان هغوی ته آرام راغے نو هغه حال ئے شو څنګه چه مخکښں وو. بیا الله تعالی دا آیت نازل کړو فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ د آخره پورے. مونږ به بدله اخلو یعنی د بدر په ورځ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ خَمْسٌ قَدْ مَضَيْنَ الدُّخَانُ وَاللِّزَامُ وَالرُّومُ وَالْبَطْشَةُ وَالْقَمَرُ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے چه پنځۀ نخښے خو تیرے شوے دُخان او لزام او روم او بطشه او قمر (یعنی شق القمر)

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د اعمش نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ قَالَ

د أبی بن کعب نه روایت دے دا چه الله اوفرمائیل چه مونږ به هغوی له کم عذاب ورکړو ددے نه مراد ددنیا

مَصَائِبُ الدُّنْيَا وَالرُّومُ وَالْبَطْشَةُ أَوِ الدُّخَانُ شُعْبَةُ الشَّاكُّ فِي الْبَطْشَةِ أَوِ الدُّخَانِ

مصیبتونه دی روم او بطشه او دُخان او شعبه ته شك دے چه بطشه ئے اووے یا دُخان

بَابُ انْشِقَاقِ الْقَمَرِ

باب : د شق القمر بیان[1]

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ بِشِقَّتَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ اشْهَدُوا

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے سپوږمئ اُوچوده د رسول الله ﷺ په زمانه کښې دوه ټکړے شوه. حضرت ﷺ اوفرمائیل گواه شئ.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى إِذَا انْفَلَقَ الْقَمَرُ فِلْقَتَيْنِ فَكَانَتْ فِلْقَةٌ وَرَاءَ الْجَبَلِ وَفِلْقَةٌ دُونَهُ فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ اشْهَدُوا

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو په منی کښې چه سپوږمئ اوچوده دوه ټوټے شوه. یوه ټکړه خو د غر په شا طرف پاتے شوه. او یوه په دے طرف لاړه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاسو گواه شئ.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِلْقَتَيْنِ فَسَتَرَ الْجَبَلُ فِلْقَةً وَكَانَتْ فِلْقَةٌ فَوْقَ الْجَبَلِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ اللَّهُمَّ اشْهَدْ

د عبدالله بن مسعودؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې سپوږمئ اوچوده دوه ټکړے شوه. نو یوے ټکړے غر لره پټ کړو او یوه ټکړه په غر پاتے شوه. او رسول الله ﷺ اوفرمائیل. اے اللهؒ ته گواه شه

---

[1] قاضی عیاضؒ وائی شق القمر زمونږ د پیغمبر ﷺ د لویو معجزونه ده او دے لره گڼرو صحابوؤ روایت کړے دے او ظاهر د ایت کریمه دغه مضمون دے چه میاشت اوچوده زجاج وائی ددے نه انکار کړے دے خنے مبتدعو چه د هغوی زړونه الله تیاره کړی دی ولے چه معجزه د عقل خلاف نه ده ځکه چه سپوږمئ د الله مخلوق دے. او الله تعالی په هغے کښې تصرف کولے شی ځنګه چه غواړی دغه شان به دے لره یوه ورځ فنا او تیاره کړی. او خنے بے دینه وائی کچرے دا واقعه شوے وے نو د هغے نقل به متواتر وو او د ټولے زمکے خلقو به هغه لیدلے وو د مکے والاؤ یواځے څه خصوصیت وو. ددے جواب دادے چه دا معجزه د شپے شوے ده اکثر دغه وخت خلق په غفلت کښې وی دروازے بندے او کپړو کښې ئے خان پټ کړے وی په دغه وخت به د سپوږمئ خیال شاذ ونادر چا ته وی او دا امر مشاهد دے چه د سپوږمئ تندر لره هم څو کسان وینی. او دا واقعه خو د یو څو خاصو سرو په درخواست شوے وه علاوه ددے نه دا څه ضروری نه ده چه په نورو ملکونو کښې د هم سپوږمئ دغه وخت ښکاره وی په وجه د منازلو د اختلاف کیدے شی سپوږمئ دوی ته نه ښکاریږی. یا د هلال په شکل باندے وی. او هغه ټکړه کومه چه دوی ته ښکاریږی د نور کله پشان په آسمان باندے وی. او په خنے مقاماتو کښې وریځ وی. والله اعلم (نووی مع زیادة)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ عَنْ شُعْبَةَ نَحْوَ حَدِيثِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ ابْنِ أَبِي عَدِيٍّ فَقَالَ اشْهَدُوا اشْهَدُوا

ابن عمرؓ د نبی ﷺ نه دغسې حدیث روایت کړو د شعبه هم دغسې حدیث مروی دے مګر د ابن عدی په روایت کښې دی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل. تاسو ګواه شئ، تاسو ګواه شئ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَهْلَ مَكَّةَ سَأَلُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً فَأَرَاهُمُ انْشِقَاقَ الْقَمَرِ مَرَّتَيْنِ

د انسؓ نه روایت دے چه مکې والاؤ د رسول الله ﷺ نه څۀ معجزه اوغوښتله نو حضرت ﷺ دوی ته دوباره د سپوږمۍ چاؤدل اوښودل.

عَنْ أَنَسٍ بِمَعْنَى حَدِيثِ شَيْبَانَ

د انسؓ نه د شیبان د حدیث هم معنی روایت دے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ فِرْقَتَيْنِ وَفِي حَدِيثِ أَبِي دَاوُدَ انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

انسؓ وائی چه د سپوږمۍ چاؤدل په دوؤ ټکړو کښې او د ابوداؤد په حدیث کښې دی چه سپوږمۍ چاؤدل د رسول الله ﷺ په زمانه کښې

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ الْقَمَرَ انْشَقَّ عَلَى زَمَانِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د سپوږمۍ چاؤدل.

بَابٌ فِي الْكُفَّارِ

باب: د کافرو بیان

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أَحَدَ أَصْبَرُ عَلَى أَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّهُ يُشْرَكُ بِهِ وَيُجْعَلُ لَهُ الْوَلَدُ ثُمَّ هُوَ يُعَافِيهِمْ وَيَرْزُقُهُمْ

د ابوموسیٰؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د الله نه زیات څوک په تکلیف باندے صبر کولو والا نشته دے (باؤجود دد ے چه هر قسم قدرت لری) د الله سره خلق شرک کوی او د هغۀ د پاره خامن ګرځوی، حال دا دے چه د هغۀ څوک خوئ نشته تول د هغۀ غلامان بندیان دی، بیا هم هغه هغوی ته بنه صحت او رزق ور کوی[1]

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابوموسیٰ د رسول الله ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړو مګر

---

[1] د صبر نه مراد دلته حلم دے یعنی د بدلے اخستو د پاره تادی نۀ کول سعدی فرمائیلی دی .

خدائے راست مسلم بزرګواری و حلم | که جُرم بیند و نان برقرار میدارد

بِمِثْلِهِ إِلَّا قَوْلَهُ وَيَجْعَلُ لَهُ الْوَلَدَ فَإِنَّهُ لَمْ يَذْكُرْهُ

په دے کښې د خوئ ذکر نشته دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحَدٌ أَصْبَرُ عَلَى أَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللهِ تَعَالَى إِنَّهُمْ يَجْعَلُونَ لَهُ نِدًّا وَيَجْعَلُونَ لَهُ وَلَدًا وَهُوَ مَعَ ذَلِكَ يَرْزُقُهُمْ وَيُعَافِيهِمْ وَيُعْطِيهِمْ

د عبد الله بن قيس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل د الله تعالى نه زيات څوك صبر کونکے نشته. خلقو دده سره شريك جوړ کړل او دده دپاره ئے اولاد تجويز کړل. او د دے باوجود هغه دوى ته رزق ورکوى او امن او عافيت ورکوى او نور انعامات ورکوى.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لِأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا لَوْ كَانَتْ لَكَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا أَكُنْتَ مُفْتَدِيًا بِهَا فَيَقُولُ نَعَمْ فَيَقُولُ قَدْ أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ هَذَا وَأَنْتَ فِي صُلْبِ آدَمَ أَنْ لَا تُشْرِكَ أَحْسِبُهُ قَالَ وَلَا أُدْخِلَكَ النَّارَ فَأَبَيْتَ إِلَّا الشِّرْكَ

د انس بن مالك رضی نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى الله تعالى به هغه کس ته اوفرمائى چا ته چه به ډير کم عذاب وى په جهنم کښى کچرے ستا سره دنياوے او څه چه په دے کښى دى آيا تا به دا ورکړے وے او خان به د د عذا به بچ کړے وو. هغه به اووائى آو. پروردگار به اوفرمائى ما خو ستا نه دد ے نه آسانه خبره غوښتلى وه (چه په هغے کښى څه خرچ نه وو) او ته هغه وخت د آدم په شا کښى وے چه شرك مه کوه زه به تا ره جهنم ته نه بيايم تا او نه منل او شرك د اوکړو (معاذ الله شرك يو داسے ګناه ده چه هغه نه شى بخښلے او شرك کولو والا کچرے د شرك په حالت کښى مړ شى نو هميشه هميشه به په جهنم کښى وى)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ إِلَّا قَوْلَهُ وَلَا أُدْخِلَكَ النَّارَ فَإِنَّهُ لَمْ يَذْكُرْهُ

انس بن مالك رضی د رسول الله ﷺ د پورتنى حديث پشان بيان کړو سوا دد ے چه ما ته جهنم ته نه داخله وے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُقَالُ لِلْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ فَيَقُولُ نَعَمْ فَيُقَالُ لَهُ قَدْ سُئِلْتَ أَيْسَرَ مِنْ ذَلِكَ

د انس بن مالك رضی نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. د قيامت په ورځ به کافر ته اووئيلے شى که چرے ستا سره دا تو له زمکه د سرو زرو ډکه وے نو هغه به د ورکړے وے او خپل خان به د خلاص کړے وے؟ هغه به اووائى آو. بيا به ورته اووئيلے شى ستا نه خو دد ے نه د آسان کار سوال شوے وو. (چه شرك مکوه هغه هم ستا نه او نه شو)

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَيُقَالُ لَهُ كَذَبْتَ قَدْ سُئِلْتَ مَا هُوَ أَيْسَرُ مِنْ ذَلِكَ

انس د رسول الله ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے مګر په دے کښې ونیلی دی چه دۀ ته به اونیلے شی ته دروغژن یے ستا نه خو دد ے نه د آسانے خبرے سوال شوے وو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ أَلَيْسَ الَّذِي أَمْشَاهُ عَلَى رِجْلَيْهِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ قَتَادَةُ بَلَى وَعِزَّةِ رَبِّنَا

د انس بن مالك نه روایت دے یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ د کافر حشر به د قیامت په ورځ پرمخے څنګه وی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چا چه هغۀ لره په دنیا کښې په دواړو خپو باندے روان کړے وو هغه دد ے طاقت نۀ لری چه دے د قیامت په ورځ پر مخے روان کړی. قتادة دد ے حدیث په اوریدو اووے بیشکه اے زمونږ ربه تۀ دا سے طاقت لرے[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً ثُمَّ يُقَالُ يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ فَيَقُولُ لَا وَاللهِ يَا رَبِّ وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُصْبَغُ صَبْغَةً فِي الْجَنَّةِ فَيُقَالُ لَهُ يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ فَيَقُولُ لَا وَاللهِ يَا رَبِّ

د انس بن مالك نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د قیامت په ورځ به د دوزخیانو یو سړے راوستے شی چه هغه به په دنیا کښې ډیر خوشحاله او مالداره وی نو په دوزخ کښې به ورله یوه غوپه ورکړے شی. بیا به ترے تپوس اوشی چه اے د آدم خویه تا چرته په دنیا کښې آرام لیدلے وو. په تا باندے چرته آرام هم تیر شوے وو هغه به اووائی اے خما ربه ما چرته آرام نۀ دے لیدے او د جنتیانو نه به یو سړے راوستے شی چه هغه به په دنیا کښې د هر چا نه زیات په تکلیف کښې وو. نو په جنت کښې به ورله غوپه ورکړے شی او بیا به ترے تپوس اوکړے شی. آیا د آدم خویه تا چرته څۀ تکلیف لیدلے وو. آیا په تا چرته سخته او غم هم تیر شوے وو.

[1] دا څۀ ګرانه خبره نۀ ده زمونږ د رب یے حسابه طاقت او قدرت دے هغه بنیادمو لره تول عمر په یو وخت کښې پر مخے ګرځولے شی او خوك چه پکښې شك کوی هغه د عقل نه خلاص دی



مَا مَرَّ بِي بُؤْسٌ قَطُّ وَلاَ رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ

هغه به اووائي په الله قسم دے په ما باندے خو چرته تکليف نۀ دے تير شوے. او ما چرته هم سختة او تکليف نۀ دے ليدلے[1].

بَابُ جَزَاءِ الْمُؤْمِنِ بِحَسَنَاتِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

باب: مؤمن ته د نيکو بدله په دنيا او په آخرت کښې به ملاويږي

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ لاَ يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً يُعْطَى بِهَا فِي الدُّنْيَا وَيُجْزَى بِهَا فِي الْآخِرَةِ وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيُطْعَمُ بِحَسَنَاتِ مَا عَمِلَ بِهَا لِلَّهِ فِي الدُّنْيَا حَتَّى إِذَا أَفْضَى إِلَى الْآخِرَةِ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَةٌ يُجْزَى بِهَا

د انس بن مالك نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي بيشکه الله تعالى په مؤمن باندے د يوے نيکئ هم ظلم نۀ کوی د هغې بدله په دنيا او آخرت دواړو کښې ورکوی. او کافر ته د هغۀ د نيکو بدله په دنيا کښې ورکولے شي. تر دے پورے چه هر کله آخرت شي نو د هغۀ سره به يوه نيکي هم پاتے نۀ وی چه د هغې بدله هغۀ ته ورکړے شي[2].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ حَدَّثَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْكَافِرَ إِذَا عَمِلَ حَسَنَةً أُطْعِمَ بِهَا طُعْمَةً مِنَ الدُّنْيَا وَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَإِنَّ اللهَ يَدَّخِرُ لَهُ حَسَنَاتِهِ فِي الْآخِرَةِ وَيُعْقِبُهُ رِزْقًا فِي الدُّنْيَا عَلَى طَاعَتِهِ

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. کافر چه هر کله يوه نيکي کوی نو هغۀ ته ئے په دنيا کښې فائده ميلاويږي {عمده نواله} او د مؤمن د نيکو نه خو الله تعالى پريږدی د آخرت دپاره. او په دنيا کښې هم هغۀ ته رزق ورکوی د خپل طاعت په موافق.

---

[1]: يعني د دوزخ د سختئ ليدو سره به ئے د دنيا آرام بالکل هير شي اگر کۀ په دنيا کښې بادشاهي کړي وی. او د جنت په آرام او سکون ليدو سره به ورته د دنيا تکليفونه هيڅ کله نۀ ياديږی. اگر چه تول عمر به ئے په بيمارئ او لوږه کښې تير کړے وی (تحفة الاخيار)

[2]: نووی وائي د عالمانو اجماع ده چه کوم کافر په کفر کښې مړ شي هغۀ له په آخرت کښې ثواب نشته. او کوم کار چه ئے په دنيا کښې د الله د رضا دپاره کړے وی. د هغې بدله به ورته په دنيا کښې ورکړے شي (يعني مالدار به وی وغيره وغيره) او بيا به ئے په آخرت کښې بدله نۀ وی. او دا دے حديث نه ثابته ده. او مراد هغه عملونه دی چه په هغې کښې د نيت احتياج نشته دے. لکه خپلولي جوړول، صدقه، آزادی، ميلمستيا او خيرات وغيره. او د مؤمن نيکئ د آخرت دپاره جمع کولے شي او په دنيا کښې به ورته هم فائده ميلاويږي والله اعلم

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِهِمَا

انس رضی الله عنه د نبی ﷺ نه د پورته دوارو حدیثونو په شان روایت کړی.

بَابُ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ وَالْكَافِرِ

باب: د مؤمن او د کافر مثال

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الزَّرْعِ لَا تَزَالُ الرِّيحُ تُمِيلُهُ وَلَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ يُصِيبُهُ الْبَلَاءُ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ شَجَرَةِ الْأَرْزِ لَا تَهْتَزُّ حَتَّى تَسْتَحْصِدَ

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د مؤمن مثال پشان د فصل دے. همیشه په هوا سره ښکته کیږی (یعنی راکږیږی دغه شان په مؤمن باندے همیشه مصیبت راځی او د منافق مثال د صنوبر د اونے پشان دے چه چرته نه راکږیږی تردے چه د زیلے نه اوویستلے شی.[1]

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ مَكَانَ قَوْلِهِ تُمِيلُهُ تُفِيئُهُ

د زهری نه په دے اسناد سره روایت دے مگر دا دے چه د عبد الرزاق په حدیث کښې دی د تُفَيِّئُهُ په ځائے تُمَيِّلُهُ دے (ددوارو معنی یوه ده)

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الْخَامَةِ مِنَ الزَّرْعِ تُفِيئُهَا الرِّيحُ تَصْرَعُهَا مَرَّةً وَتَعْدِلُهَا أُخْرَى حَتَّى تَهِيجَ وَمَثَلُ الْكَافِرِ كَمَثَلِ الْأَرْزَةِ الْمُجْذِيَةِ عَلَى أَصْلِهَا لَا يُفِيئُهَا شَيْءٌ حَتَّى يَكُونَ انْجِعَافُهَا مَرَّةً وَاحِدَةً

د کعب بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د مؤمن مثال داسے دے لکه د پتی نرم فصل. هوا دے لره خوزوی کله دے لره غورځوی کله ئے نیغه وی تردے پورے چه اوچ شی. او مثال د کافر لکه د دیار اونه چه نیغه ولاړه وی او په خپلو زیلو باندے. دے لره هیڅ یو څیز نه راکږوی تردے پورے چه یو ځل د ختے نه اوخیژی.

---

[1] د صنوبر (یعنی دیار) اونه سخته وی په هوا سره کمه ښکته کیږی او کچرے سخته هوا راشی نو د زیلے نه ئے اوباسی لکه د تاړ او د کهجورے اونه مطلب دادے چه مؤمن همیشه په بلا او مصیبت کښې گرفتار وی نو په دے سره د هغهٔ په گناهونو کښې سپکوالے راځی. او په کافر او منافق باندے مصیبت کم وی. او که پرے راشی هم خو د ثواب نه محرومه دے. نو مؤمن ته لازم دی چه تکلیف او مصیبت د الله احسان اوگڼړی او د خپلو گناهونو کفاره ئے خیال کړی

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الْخَامَةِ مِنَ الزَّرْعِ تُفِيئُهَا الرِّيَاحُ تَصْرَعُهَا مَرَّةً وَتَعْدِلُهَا حَتَّى يَأْتِيَهُ أَجَلُهُ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ مَثَلُ الْأَرْزَةِ الْمُجْذِيَةِ الَّتِي لَا يُصِيبُهَا شَيْءٌ حَتَّى يَكُونَ انْجِعَافُهَا مَرَّةً وَاحِدَةً

د كعب بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى د مؤمن مثال داسے دے لكه د پتى نرم فصل او دے لره تالئ وركوى كله دے لره اوغور خوى او كله ئے نيغ اودروى تردے پورے چه ددۀ وخت پوره شى. او د منافق مثال د ديار د اونې پشان دے چه نيغه ولاړه وى. دے لره هيڅ څيز نشى راكږولے تردے پورے چه يك دم د ختمے نه اوخيژى.

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ أَنَّ مَحْمُوْدًا قَالَ فِي رِوَايَتِهِ عَنْ بِشْرٍ وَمَثَلُ الْكَافِرِ كَمَثَلِ الْأَرْزَةِ وَأَمَّا ابْنُ حَاتِمٍ فَقَالَ مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَا قَالَ زُهَيْرٌ

كعب بن مالك د نبى ﷺ نه روايت كړے دے. مګر محمود د بشر په واسطے سره په خپل روايت كښں وئيلى دى او د كافر مثال د صنوبر د اونې پشان دے او ابن حاتم وئيلى دى. د منافق مثال، څنګه چه د زهير په روايت كښں راغلے دى.

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ وَقَالَا جَمِيعًا فِي حَدِيثِهِمَا عَنْ يَحْيَى وَمَثَلُ الْكَافِرِ مَثَلُ الْأَرْزَةِ

كعب بن مالك د رسول الله ﷺ نه د پورته راويانو د حديث پشان روايت كړو. او دواړو د يحيى په واسطے سره په خپلو حديثونو كښں وئيلى دى او د كافر مثال د صنوبر د اونې پشان دے.

بَابُ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ مَثَلُ النَّخْلَةِ

باب : د مؤمن مثال د كهجورے د اونې پشان دے

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا وَإِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ فَحَدِّثُوْنِي مَا هِيَ فَوَقَعَ النَّاسُ فِي شَجَرِ الْبَوَادِي قَالَ عَبْدُ اللهِ وَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَاسْتَحْيَيْتُ ثُمَّ قَالُوا حَدِّثْنَا مَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ فَقَالَ هِيَ النَّخْلَةُ قَالَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِعُمَرَ قَالَ لَأَنْ تَكُوْنَ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے وائى چه رسول الله اوفرمائيل په اونو كښں يوه اونه داسے ده چه د هغے پاڼے نۀ غورزيږى. دغه مثال دے د مسلمانانو ما ته بيان كړئ هغه كومه اونه ده؟ خلقو د ځنګل په اونو خيال شروع كړو. عبدالله وائى چه ځما په زړۀ كښں راغلل چه هغه د كهجورے اونه ده. ليكن ما شرم اوكړو (او اومے نۀ وے) بيا خلقو عرض اوكړو چه يا رسول الله تاسو بيان اوفرمايئ چه هغه كومه اونه ده؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل هغه د كهجورے اونه ده. عبد الله وائى بيا ما دا بيان حضرت عمر ته اوكړو. هغوى اووے كچرے تا وئيلے وے چه هغه د كهجورے اونه ده (د حضرت ﷺ چه كله

قُلْتَ هِيَ النَّخْلَةُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا

تپوس کړے وے، نو ما ته ددا سے داسے خیزونو د میلاویدو نه زیاته غوره وه[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا لِأَصْحَابِهِ أَخْبِرُونِي عَنْ شَجَرَةٍ مَثَلُهَا مَثَلُ الْمُؤْمِنِ فَجَعَلَ الْقَوْمُ يَذْكُرُونَ شَجَرًا مِنْ شَجَرِ الْبَوَادِي قَالَ ابْنُ عُمَرَ وَأُلْقِيَ فِي نَفْسِي أَوْ رُوعِيَ أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَجَعَلْتُ أُرِيدُ أَنْ أَقُولَهَا فَإِذَا أَسْنَانُ الْقَوْمِ فَأَهَابُ أَنْ أَتَكَلَّمَ فَلَمَّا سَكَتُوا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هِيَ النَّخْلَةُ

د ابن عمرؓ نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ یوه ورځ خپلو صحابؤ ته اوفرمائیل. خبر راکړئ ماته په هغه اونې سره چه د هغې مثال د مؤمن مثال دے. خلقو د ځنګل د اونو نه د یوے یوے اونې ذکر کولو. ابن عمرؓ وائي ځما په زړهٔ کښې واچولے شوه چه هغه د کهجورے اونه ده. ما د وئیلو اراده اوکړه. لیکن هلته مشران صحابهؓ ناست وو زهٔ یریدم په خبرو کولو کښې هر کله چه خلق چپ پاتے شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هغه د کهجورے اونه ده.

عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَمَا سَمِعْتُهُ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا حَدِيثًا وَاحِدًا قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُتِيَ بِجُمَّارٍ فَذَكَرَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمَا

د مجاهدؒ نه روایت دے وائي چه زهٔ د عبد الله بن عمرؓ سره وم. ما د هغوی نه د رسول الله ﷺ څهٔ حدیث وانهٔ وریدل علاوه د یو حدیث نه هغوی وائي چه مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو. په دے کښې د کهجورے ګُل راوړے شو، چه هغې لره عرب خلق خوری او هغه نرم وی، بیا ئے بیان اوکړو په دغه شان لکه چه پورته ذکر شو.

عَنْ مُجَاهِدًا يَقُولُ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجُمَّارٍ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ

مجاهدؒ وئیلی دی ما واوریدل د ابن عمرؓ نه هغوی فرمائیل د رسول الله ﷺ خواله د یو کهجورے ګُل راوړے شو. مخکښې د پورتنو حدیثونو پشان بیان کړے شو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے وائي چه مونږ د رسول الله ﷺ سره

---

[1] مسلمانانو ته ئے د کهجورے اونے سره تشبیهه ورکړه. یعنی لکه څنګه چه د کهجورے څهٔ نقصان نلوی. دغه شان مسلمان له څهٔ ضرر نشته کهٔ مصیبت ورله راځی نو صبر کوی او کهٔ نعمت ورله راځی نو شکر کوی دواړه خواړه او په دواړو کښې ثواب دے.



صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَخْبِرُونِي بِشَجَرَةٍ شِبْهِ أَوْ كَالرَّجُلِ الْمُسْلِمِ لَا يَتَحَاتُ وَرَقُهَا قَالَ إِبْرَاهِيمُ لَعَلَّ مُسْلِمًا قَالَ وَتُؤْتِي أُكُلَهَا وَكَذَا وَجَدْتُ عِنْدَ غَيْرِي أَيْضًا وَلَا تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ وَرَأَيْتُ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ لَا يَتَكَلَّمَانِ فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَكَلَّمَ أَوْ أَقُولَ شَيْئًا فَقَالَ عُمَرُ لَأَنْ تَكُونَ قُلْتَهَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا

بَابُ فِتْنَةِ الشَّيْطَانِ فِي الْعَرَبِ مِنَ

ناست وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه خبر راکړئ ما لره د هغه اونې چه مشابه ده یا د مسلمان سړی پشان ده. چه د هغې پاڼې نه ریږی (ابراهیم بن سفیانؒ وائی امام مسلمؒ کیدے شی داسے وئیلی وی وَتُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ) بے د لام نه لیکن ما د خپل خان نه علوه د نورو خلقو په روایت هم داسے اوموندل. وَلَا تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ. او څهٔ افت ورته نهٔ شی رسیدے هغه خپله میوه ورکوی په هر وخت باندے. ابن عمرؓ وائی خما په زړهٔ کښې راغلل چه اووایم چه کهجوره ده. لیکن ما ابوبکرؓ او عمرؓ اولیدل چه هغوی نهٔ وے نو ما ته هم وئیل بد معلوم شو. بیا حضرت عمرؓ اووے کچرے تا وئیلے وے نو ما ته د دغه دغه څیزونو نه زیاته غوره وه [1]

باب: د شیطان فساد په مسلمانانو کښې

[1]: (ابراهیم بن سفیان وائی امام مسلمؒ کیدے شی داسے وئیلی وی وَتُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بغیر د لام نه. لیکن ما د خپل خان نه علاوه د نورو خلقو په روایت کښې هم دغه شان اولیدل. وَلَا تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ. غرض دا چه د ابرهیم گمان شو چه د لا لفظ په دے حدیث کښې غلطی ده. ځکه چه د دے دا معنی ده چه هغه خپله میوه هر وخت نه ورکوی. حالانکه مقصود دا دے چه هغه خپله میوه هر وخت ورکوی. د بخاری په روایت کښې هم د لا لفظ دے او هغه صحیح دے او د هغې متعلق محذوف دے یعنی هغې ته څهٔ افت نهٔ شی رسیدے او وَتُؤْتِي أُكُلَهَا خانله دے لا په هغې باندے نافیه نه دے لکه چه ابراهیم اوگنړهٔ ابن عمرؓ وائی خما په زړهٔ کښې راغلل چه اووایم چه کهجوره ده. لیکن ما ابوبکر او عمر اولیدل چه هغوی څهٔ نهٔ وے نو ما ته خبرے کول یا څهٔ وئیل بد ښکاره شو د دے حدیث نه معلومه شوه چه عالم لره د خپلو شاگردانو د فهم د معلومولو دپاره په هغوی سوال کوی صحیح دی. او د مشرانو عزت او ادب لازم دے. لیکن کهٔ یو مشر د یوے مسئلے جواب نهٔ شی ورکولے نو کشر له چه هغه پرې پوهیږی جواب ورکول پکار دی. او د بچو په ذهن او لیاقت سره خوشحالیدل پکار دی. او د کهجورے اونه غوره ده. او د تشبیهه وجه نے دا ده چه د کهجورے اونه سراسر منفعت دے. سورے ئې همیشه وی او خوږه مزیداره میوه نیسی همیشه په هغې کښې میوه وی کله شنه کله اوچه. او هر کله چه دغه اونه اوچه شی نو د هغې لرگی او پاڼے او ښاخونه تول په کار راځی دغه شان د مؤمن ذات سراسر فائده ده د نورو مؤمنانو دپاره او ځنې وائی چه وجه د تشبیهه نے دا ده چه د کهجورے سر کټ کړے شی نو مره کیږی د انسان په شان دا خبره په نورو اونو کښې نشته دے. او ځنے وائی هر کله چه یو خانې شوی نلوی نو نه حامله کیږی نو بنیادم پشان. والله اعلم (نووی مختصراً)

التَّحْرِيش

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ

د جابر نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو شیطان نا امیده شوے دے د دے خبرے نه چه د عربو په جزیره کښې مونځ کونکی خلق د هغهٔ عبادت اوکړی (لکه د جاهلیت په زمانه کښې چه به ئے عبادت کوو) لیکن شیطان هغوی لره غصه کوی (او په خپلو کښې ئے جنګوی)[1]

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د اعمش نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ عَرْشَ إِبْلِيسَ عَلَى الْبَحْرِ فَيَبْعَثُ سَرَايَاهُ فَيَفْتِنُونَ النَّاسَ فَأَعْظَمُهُمْ عِنْدَهُ أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً

د جابر نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. د ابلیس تخت په سمندر باندے دے. هغه خپلو لښکرو لره لیږی (د خلقو د خطا کولو دپاره) نو غټ شیطان د هغهٔ په نز هغه دے چه غټه فتنه جوړه کړی (یعنی خلقو لره ډیر اوجنګوی)

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ مَا صَنَعْتَ شَيْئًا قَالَ ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ قَالَ فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ نِعْمَ أَنْتَ قَالَ الْأَعْمَشُ أُرَاهُ قَالَ

د جابر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ابلیس خپل تخت په اوبو باندے ایخودے دے. پس خپلو لښکرو لره په مخلوق کښې د فساد کولو دپاره لیږی. نو هغهٔ ته په مرتبه کښې زیات نزدے هغه وی چه هغه غټ فساد اوغورځوی یو شیطان په هغوی کښې راشی وائی چه ما فلانے فلانے کار اوکړو (یعنی په فلانی مے غلا اوکړه او په فلانی مے شراب اوڅکول) نو شیطان اووائی تا هیڅ هم نهٔ دی کړی. بیا بل راشی او اووائی چه ما فلانے نه پریخودو ترد ے پورے چه جدائی مے راوسته د هغهٔ او د هغهٔ د ښځے په مینځ

[1] دا حدیث د حضرت ﷺ لویه معجزه ده. د حضرت ﷺ د وفات نه پس دغه شان اوشوه چه د عربو خلقو شرک او نهٔ کړو مګر په خپلو کښې په فتنه شول او د نن ورځے پورے هغه فتنه قائمه ده

فَلْيَلْتَزِمْهُ

کښې. نو هغه خپل خان ته رانژدے کړی چه آو تا غټ کار اوکړو. اعمش وئیلی دی چه د خان سره ئے اونیسی[1]

عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَبْعَثُ الشَّيْطَانُ سَرَايَاهُ فَيَفْتِنُونَ النَّاسَ فَأَعْظَمُهُمْ عِنْدَهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً

د جابر؇ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. شیطان خپل لښکر لیږی. او هغه په خلقو کښې فتنه راواچته وی. نو هغه نژدے زیات مرتبے والا هغه وی کوم چه لویه فتنه اوچته وی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَقَدْ وُكِّلَ بِهِ قَرِينُهُ مِنَ الْجِنِّ قَالُوا وَإِيَّاكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَإِيَّايَ إِلاَّ أَنَّ اللهَ أَعَانَنِي عَلَيْهِ فَأَسْلَمَ فَلاَ يَأْمُرُنِي إِلاَّ بِخَيْرٍ

د عبد الله بن مسعود؇ نه رویت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ستاسو نه یو تن داسے نشته مگر د هغۀ سره یو شیطان د هغۀ ملگرے نژدے مقرر شوے دے خلقو عرض اوکړو چه ولے یا رسول الله ﷺ ستاسو سره هم شیطان شته؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل خما سره هم دے لیکن الله تعالی په هغۀ باندے خما مدد کړے دے نو زۀ سلامت اوسیږم. او نۀ ښائی ما ته هیڅ یوه خبره مگر د خیر[2]

عَنْ عَمَّارِ بْنِ رُزَيْقٍ كِلاَهُمَا عَنْ مَنْصُورٍ بِإِسْنَادِ جَرِيرٍ مِثْلَ حَدِيثِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ سُفْيَانَ وَقَدْ وُكِّلَ بِهِ قَرِينُهُ مِنَ الْجِنِّ وَقَرِينُهُ مِنَ الْمَلاَئِكَةِ

عمار بن زُریق د منصور نه د جریر په اسناد سره د جریر د حدیث پشان روایت کړو. مگر د سفیان په حدیث کښې دی چه د هر یو سړی د هغۀ ملگرے شیطان او ملگرے فرښته مقرر کړے شوے ده.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے؇ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د شپے د هغے د خوانه راووتو نو هغے له غیرت ورغے (او دائے خیال

---

[1] د ښځے خاوند په جدایئ کښې غټ غټ فسادونه دی یو خو اولاد کیدل موقوف شی دویم کچرے اولاد کیږی نو د حرامو نه کیږی نو بے برکتی خوره شوه. خکه شیطان ته دا کار غوره دے. مسلمانانو ته په دے کښې احتیاط لازم دے داسے نۀ وی چه په غصه کښې طلاق یا دد ے پشان بله یوه خبره د خلے نه اوخی. نو بیا به اولاد د حرامو نه پیدا کیږی (تحفة الاخیار)

[2] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه د حضرت ﷺ ملگری شیطان حضرت ﷺ ته نۀ شو رسیدلے نووی؇ وائی د امت اجماع ده چه رسول الله ﷺ د شیطان نه معصوم دے په خپل جسم او زړۀ او ژبه کښې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا لَيْلًا قَالَتْ فَغِرْتُ عَلَيْهِ فَجَاءَ فَرَأَى مَا أَصْنَعُ فَقَالَ مَا لَكِ يَا عَائِشَةُ أَغِرْتِ فَقُلْتُ وَمَا لِي لَا يَغَارُ مِثْلِي عَلَى مِثْلِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَدْ جَاءَكِ شَيْطَانُكِ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ أَوَ مَعِيَ شَيْطَانٌ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ وَمَعَ كُلِّ إِنْسَانٍ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ وَمَعَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ نَعَمْ وَلَكِنْ رَبِّي أَعَانَنِي عَلَيْهِ حَتَّى أَسْلَمَ

شو چه حضرت ﷺ د بلې بی بی خواله تشریف یوړو، بیا حضرت ﷺ راغې او څما حال ئې اولیدو. نو اونې فرمائیل اے عائشے تاله څه شوی دی ولې تاله غیرت درغې. ما اووے په ما څه اوشو چه څما پشان بی بی له (کم عمره او ښکلې) به په ستا غوند خاوند باندے غیرت نه ورځی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل ولې ستا شیطان ستا خواله راغې ما عرض اوکړو یا رسول الله! ولې څما سره هم شیطان شته. حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. ما عرض اوکړو. د هر چا سره شیطان وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. ما عرض اوکړو او ستاسو سره هم شته یا رسول الله: حضرت ﷺ اوفرمائیل آو لیکن څما رب څما مدد کړے دے تر دے پورے چه هغهٔ اسلام راوړو[1].

بَابُ لَنْ يَدْخُلَ أَحَدٌ الْجَنَّةَ بِعَمَلِهِ بَلْ بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى

باب: هيڅ يو سړے د خپلو اعمالو په وجه جنت ته نهٔ ځی بلکه د الله په رحمت به ځی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَنْ يُنْجِيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ قَالَ رَجُلٌ وَلَا إِيَّاكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَلَا إِيَّايَ إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ

د ابوهریرهٔ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هیڅ یو کس ستاسو نه خلاصے نهٔ شی موندے د خپل عمل په وجه سره. یو سړی اووے یا رسول الله! او تاسو حضرت ﷺ اوفرمائیل زهٔ هم نهٔ شم. لیکن په داسے صورت کښې چه الله تعالی ما پټ کړی په خپل

---

[1] اوس سوا د نیکے خبرے نه د بدے خبرے هغه حکم نهٔ کوی. او په دے باندے د امت اجماع ده چه حضرت ﷺ د نبوت نه پس د ګناهونو نه معصوم وو یعنی د تبلیغ په احکامو کښې حضرت ﷺ معصوم وو (د پیغمبری نه مخکښې هم انبیاء کرام د ګناهونو نه معصوم وی دا د اهل سنت والجماعت عقیده ده عارف)

بِرَحْمَةٍ وَلَكِنْ سَدِّدُوا

رحمت سره. لیکن تاسو خلق میانه روی کوئ[1].

عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ وَلَمْ يَذْكُرْ وَلَكِنْ سَدِّدُوا

د بکیر اشج نه په دے اسناد سره روایت دے مګر په دے کښې صرف دادی چه په خپل رحمت او فضل سره او دا ذکر نۀ دی لیکن تاسو میانه روی اختیار کړئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ أَحَدٍ يُدْخِلُهُ عَمَلُهُ الْجَنَّةَ فَقِيلَ وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَلَا أَنَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هیڅوک داسے نشته چه هغۀ له عمل جنت ته اورسوی. خلقو عرض اوکړو او تۀ هم نه یا رسول الله. حضرت ﷺ اوفرمائیل آو نۀ زۀ. مګر دا چه

[1] یعنی افراط تفریط مۀ کوئ. عبادت ښه عملونه په اعتدال سره کوئ ځور مه قدرے چه مستون وی. او افراط دا چه دومره په عبادت کښې غرق شی چه د دنیا د کارونو نه بالکل غافله شی. او د خپل کور والاحق فراموش کړی. او تفریط دا چه د دنیا په کارنو کښې داسے غرق شی چه په واجبو او ضروری عباداتو کښې نے خلل واقع شی. دا دواړه طریقے ښے نۀ دی. او غوره د شرع طریقه ده چه د معاش او معاد جامع ده مصلحت لره.

نوویؒ وائی د اهل سنت مذهب دادے چه په عقل سره نۀ ثواب نۀ عذاب نۀ وجوب نۀ حرمت نۀ بل څۀ تکلیف ثابتیږی. بلکه هر تکلیف د شرع نه ثابتیږی او دا هم د اهل سنت مذهب دے چه په الله تعالی باندے یو څیز واجب نۀ د بلکه ټول عالم د هغۀ ملك دے. او دنیا او آخرت د هغۀ په بادشاهت کښې دی. چه څۀ غواړی کولے شی کۀ اوغواړی نو ټول نیکان او صالحان بندیګان به په عذاب کړی او جهنم ته به نے بوځی او دا به عدل وی او کۀ اوغواړی نو جنت ته به نے بوځی دا به فضل وی. او کۀ اوغواړی نو کافران به جنت ته بوځی خو هغه کافرانو لره جنت ته نۀ بوځی ځکه چه هغۀ ربښتونے خبر ورکړے دے چه کافران به جنت ته نۀ بوځم. بلکه مؤمنان به بخښم او په خپل رحمت سره به نے جنت ته داخلوم. او کافران او منافقان به همیشه همیشه په جهنم کښې ساتم. او دا د هغۀ عدل دے. او معتزله دد ے خلاف احکام د عقل نه ثابتوی او د عملونو ثواب واجب ګڼړی او دا د هغوی خبط دے. او دا حدیث او نور داسے ډیر احادیث د اهل سنت مذهب ثابتوی. او دا چه الله تعالی فرمائیلی دی چه تاسو به جنت ته د خپلو کارونو په وجه سره ځئ هغه دد ے حدیثو معارض نۀ دے ځکه چه اعمال صالحه د جنت د تلو سبب دے. خو توفیق د هغۀ عملونو او د اخلاص هدایت او قبلول د هغے دا د الله په فضل او رحمت سره دی. نو صرف عمل جنت ته دداخلیدو علت نۀ شو. انتهٰی ما قال النوویؒ دد ے حدیث نه معلومه شوه چه په الله د چا زور نشته دے. او نۀ د هغۀ د حکم په مخکښې چا لره د خبرو کولو مجال شته خواه کۀ نبی وی یا ولی یا فرښته یا بل څوك وی. او د هغۀ قدرت بے حده او بے حسابه دے. او دا هم معلومه شوه چه بنده د په خپلو عملونو نۀ غاوره کیږی. ځکه چه د پیغمبرانو او خصوصاً زمونږ د پیغمبر چه اولین او آخرین سردار دے په خپلو عملونو باندے څۀ بهروسه نۀ وه. او صرف د الله په فضل او رحمت باندے نے تکیه وه. نو د بل یو غوث یا ولی یا درویش څۀ حقیقت دے. چه د خپلو اعمالو په وجه سره به خپل ځان د جنت مستحق خیال کړی یا بل چا لره به جنت ته بوځی په قول د یو سړی: پیر خود درمانده تا به شفاعت مرید چه رسد

إِلاَّ أَنْ يَتَغَمَّدَنِي رَبِّي بِرَحْمَةٍ

الله تعالی په خپل رحمت سره ماپټ کړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يُنْجِيهِ عَمَلُهُ قَالُوا وَلاَ أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَلاَ أَنَا إِلاَّ أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَرَحْمَةٍ وَقَالَ ابْنُ عَوْنٍ بِيَدِهِ هَكَذَا وَأَشَارَ عَلَى رَأْسِهِ وَلاَ أَنَا إِلاَّ أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَرَحْمَةٍ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي په تاسو کښې هيڅ يو کس ته دهغهٔ عمل خلاصے نشی ورکولے صحابؤ عرض اوکړو. تاسو ته به ستاسو عمل خلاصے نه ورکوی؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل ماله به هم نهٔ مګر دا الله په خپل رحمت او مغفرت سره ما پټ بوخی. ابن عونؒ په خپل لاس سره په خپل سر اشاره اوکړه او اوئے ونيل نهٔ زهٔ مګر دا د الله تعالی په خپل مغفرت او رحمت سره ما پټ بوخی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ أَحَدٌ يُنْجِيهِ عَمَلُهُ قَالُوا وَلاَ أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَلاَ أَنَا إِلاَّ أَنْ يَتَدَارَكَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَةٍ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی. هيڅ يو سړی ته به عمل خلاصے نه ورکوی. صحابؤ عرض اوکړي. تاسو ته به هم يا رسول الله؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل. ما لره هم مګر دا چه الله په خپل رحمت سره خما مدد اوکړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يُدْخِلَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ الْجَنَّةَ قَالُوا وَلاَ أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَلاَ أَنَا إِلاَّ أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِفَضْلٍ وَرَحْمَةٍ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی. هيڅ يو سړی ته به عمل خلاصے نه ورکوی. صحابؤ عرض اوکړو. تاسو ته به هم يا رسول الله؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل ما لره هم تر هغې پورے چه د الله فضل او رحمت خما شامل حال نه وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَارِبُوا وَسَدِّدُوا وَاعْلَمُوا أَنَّهُ لَنْ يَنْجُوَ أَحَدٌ مِنْكُمْ بِعَمَلِهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَلاَ أَنْتَ قَالَ وَلاَ أَنَا إِلاَّ أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی ميانه روی کوئ کهٔ دا اونه کړے شئ نو د ميانه روئ ته نژدے شئ (يعنی اعتدال کوئ کهٔ اعتدال اونه شی نو خير اعتدال ته نژدے اوسئ افراط او تفريط او غلو او تعصب مهٔ کوئ) او پوهه شئ چه هيڅ به په تاسو کښې په خپل عمل خلاصے نه مومی. صحابؤ عرض اوکړو. تاسو هم په هغوی کښې شامل يئ: حضرت ﷺ اوفرمائيل. آو زهٔ هم ترڅو پورے الله په خپل رحمت او فضل کښې ما پټ بوخی.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ

جابر د رسول الله ﷺ نه د پورتنې حديث پشان روايت كړو.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِالْإِسْنَادَيْنِ جَمِيعًا كَرِوَايَةِ ابْنِ نُمَيْرٍ

اعمش په دواړو اسنادو سره د ابن نمير د روايت پشان روايت اوكړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَزَادَ وَأَبْشِرُوا

ابوهريره د رسول الله ﷺ د پورتنې حديث پشان روايت اوكړو. او په دے كښې دا زياته ده. چه خوشحاله شئ يا خوشحاله كړئ.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يُدْخِلُ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ الْجَنَّةَ وَلَا يُجِيرُهُ مِنَ النَّارِ وَلَا أَنَا إِلَّا بِرَحْمَةٍ مِنَ اللهِ

د جابر نه روايت دے وائي چه ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلي ئے وو. ستاسو نه د هيڅ يو كس عمل به هغه جنت ته بو نه ځي نه به ئے د أور نه بچ كړي تردے پورے چه ما لره هم مگر د الله رحمت (جنت ته به مے بوځي به مے او د جهنم نه بچ كړي)

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا كَانَتْ تَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَأَبْشِرُوا فَإِنَّهُ لَنْ يُدْخِلَ الْجَنَّةَ أَحَدًا عَمَلُهُ قَالُوا وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَلَا أَنَا إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَةٍ وَاعْلَمُوا أَنَّ أَحَبَّ الْعَمَلِ إِلَى اللهِ أَدْوَمُهُ وَإِنْ قَلَّ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ميانه روي كوئ. او كۀ ميانه روي در نه نۀ كيږي نو هغے ته نږدے شئ. او خوشحاله شئ ځكه چه د هيڅ يو بنده عمل به هغه جنت ته نه شي بوتلے. خلقو عرض اوكړو يا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائيل او نه ماله مگر دا چه الله تعالى پټ كوي ماله په رحمت خپل سره او پوهه شئ چه ډير غوره الله ته هغه عمل دے چه هغه هميشه اوكړے شي اگر كۀ لږ وي.

عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ وَأَبْشِرُوا

د موسى بن عقبه نه په دے اسناد سره روايت دے او په دے كښې دا ذكر نشته چه خوشحاله شئ.

بَابُ إِكْثَارِ الْأَعْمَالِ وَالِاجْتِهَادِ فِي الْعِبَادَةِ

باب: عمل ډير كول او په عبادت كښې كوشش كول

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى حَتَّى انْتَفَخَتْ قَدَمَاهُ فَقِيلَ لَهُ أَتَكَلَّفُ هَذَا وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا

د مغيره بن شعبه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به مونځ اوكړو تردے پورے چه خپے مباركے به ئے اوپړسيدے. خلقو ورته اووے تاسو دومره زيات تكليف ولے اوچتوئ؟ تاسو ته خو مخكښ

تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ فَقَالَ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا

روستو ګناهونه ټول بخښلی شوی دی حضرت ﷺ اوفرمائیل ولې زۀ به د الله تعالی شکر ګذار بنده نه جوړیږم[۱]

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ يَقُولُ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى وَرِمَتْ قَدَمَاهُ قَالُوا قَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا

د مغیره بن شعبه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په مانځۀ اوریدۀ ترد ے پورے چه د حضرت ﷺ قدمونه مبارك اوپړسیدل صحابوؓ عرض اوکړو. الله تعالی ستاستو مخکینی او روستنی ټول ګناهونه معاف کړے دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو زۀ د الله شکر ګزار بنده جوړ نۀ شم.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى قَامَ حَتَّى تَفَطَّرَ رِجْلَاهُ قَالَتْ عَائِشَةُ يَا رَسُولَ اللهِ أَتَصْنَعُ هٰذَا وَقَدْ غُفِرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ چه به هر کله مونځ کوو نو دومره به اودریدو چه خپے مبارکے به ئے اوچودے. ما اووے یا رسول الله ﷺ دومره محنت ولے کوئ تاسو ته خو اولنی او روستنی ګناهونه بخښلے شوی دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل اے عائشےؓ ولے زۀ به د الله شکر ګزار بنده نۀ جوړیږم.

بَابُ الْاِقْتِصَادِ فِي الْمَوْعِظَةِ

باب : په وعظ کښې میانه روی

عَنْ شَقِيقٍ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ بَابِ عَبْدِ اللهِ نَنْتَظِرُهُ فَمَرَّ بِنَا يَزِيدُ بْنُ مُعَاوِيَةَ النَّخَعِيُّ فَقُلْنَا أَعْلِمْهُ بِمَكَانِنَا فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ خَرَجَ عَلَيْنَا عَبْدُ اللهِ فَقَالَ إِنِّي أُخْبَرُ بِمَكَانِكُمْ فَمَا يَمْنَعُنِي أَنْ أَخْرُجَ إِلَيْكُمْ إِلَّا كَرَاهِيَةُ أَنْ

د شقیق نه روایت دے وائی چه مونږ د عبد الله بن مسعودؓ په دروازه کښې د هغوی په انتظار کښې ناست وو چه په دے کښې یزید بن معاویه نخعی رااووتۀ مونږ هغۀ ته اووے چه عبد اللهؓ ته زمونږ اطلاع ورکړه. پس هغه لاړو او عبد اللهؓ رااووتۀ او اوئے وئیل چه زۀ ستاسو د راتلو نه خبر شوے وم خو په دے حال سره نه راوتم چه چرته تاسو خما په وعظ خفه نۀ شئ؛ یعنی په اوریدو اوریدو بیرزاره

---

[۱] ولے زۀ دد الله تعالی شکر ګذار بنده جوړ نه شم یعنی د هغه د مغفرت شکر ګزاری به نه کوم معلومه شوه چه حضرت ﷺ عبادت د ګناهونو د مغفرت دپاره نه کولو بلکه د الله کریم د نعمت شکر ئے ادا کولو

أَمَلَّكُمْ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَخَوَّلُنَا بِالْمَوْعِظَةِ فِي الْأَيَّامِ مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا

نۀ شي او رسول الله ﷺ به مونږ ته د وعظ اوورولو دپاره وخت او موقع لټوله (يعنې زمونږ د خوشحالئ موقع، په ورځو کښې دده يرے نه چه چرته په مونږ باندے بار نۀ شي (خکه چه زړۀ نۀ لګی او وعظ اوري نو د فاندے په ځائے د ګنهګاريدو يره ده. ددے حديث نه معلومه شوه چه واعظ لره وعظ او قاري لره قرائت د دومره وخته کول پکار دي چه خلق ئے په خوشحالئ سره اوري او زړۀ ئے ورسره لګی او په هغوی بوجهـ کيږی نه.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَزَادَ مِنْجَابٌ فِي رِوَايَتِهِ عَنِ ابْنِ مُسْهِرٍ قَالَ الْأَعْمَشُ وَحَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ مِثْلَهُ

د اعمش نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے او منجاب د ابن مسهر په واسطے سره دا زياته کړه چه اعمش وئيلی دی او حديث ئے بيان کړو ما ته عمرو بن مرّه هغۀ د شقيق نه اوريدلے دے هغۀ دغسے د عبد اللهؓ نه

عَنْ شَقِيقٍ أَبِي وَائِلٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللهِ يُذَكِّرُنَا كُلَّ يَوْمِ خَمِيسٍ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ إِنَّا نُحِبُّ حَدِيثَكَ وَنَشْتَهِيهِ وَلَوَدِدْنَا أَنَّكَ حَدَّثْتَنَا كُلَّ يَوْمٍ فَقَالَ مَا يَمْنَعُنِي أَنْ أُحَدِّثَكُمْ إِلَّا كَرَاهِيَةُ أَنْ أُمِلَّكُمْ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَخَوَّلُنَا بِالْمَوْعِظَةِ فِي الْأَيَّامِ كَرَاهِيَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا

د ابو وائل نه روايت دے چه عبد الله بن مسعودؓ به مونږ ته په هر زيارت وعظ کولو. يو سړی اووے اے ابو عبد الرّحمنؓ (دا کنيت دے د عبد الله بن مسعودؓ) مونږه ستا حديث غواړو او غوره کوؤ ئې حديث بيانوه. عبد اللهؓ اووے زۀ چه تاسو ته هره ورځ حديث نۀ بيانوم هغه ددے وجے نه چه زۀ بد ګنړم تاسو لره خفه کول او رسول الله ﷺ به په څو ورځو کښې يوه ورځ مقرروله په دے وجه چه هغوی بدګنړلو مونږ ته تکليف راکول (يعنې بوجهـ کيدل)

كِتَابُ الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَاهْلِهَا

د جنت د نعمتونو او د جنت والاؤ بيان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ

د انس بن مالك نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل جنت پټ شوے دے په هغه خبرو سره چه نفس ته ناخوښه دی او دوزخ پټ شوے دے د نفس په خواهشاتو سره[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

ابوهريره د رسول الله ﷺ نه د پورتنی حديث پشان روايت کړو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ مِصْدَاقُ ذٰلِكَ فِي كِتَابِ اللهِ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ

د ابوهريره نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه الله تعالی فرمائی ما د خپلو نيکانو بنديګانو دپاره هغه څيزونه تيار کړی دی چه نه د چا سترګو ليدلی دی او نه غوږونو اوريدلی دی او نه د چا په زړهٔ کښې د هغے تصور راغلے دے او دا مضمون د الله په کتاب کښې موجود دے او نه دے خبر هيڅ يو نفس چه څهٔ پټ کړے شوی دی د دوی دپاره د سترګو د آرام دا بدله ده د هغوی د کارونو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ ذُخْرًا بَلْهَ مَا أَطْلَعَكُمُ اللهُ عَلَيْهِ

د ابوهريره نه روايت دے او رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه الله تعالی فرمائی ما د خپلو نيکانو بنديګانو دپاره تيار کړی دی هغه څهٔ چه نهٔ سترګو ليدلی دی او نهٔ غوږونو اوريدلی دی او نهٔ د چا بنده په زړهٔ باندے تير شوی دی. دا ټول نعمتونه الله پورته ايخودی دی. دا خو پرېږده چه الله تعالی تاسو ته اوښودل (يعنی کوم

[1] دا دواړه حجابونه دی د جنت او دوزخ پس چه څوك دغه حجاب اوچت کړی هغه به ورته خی نفس ته ناخوښه خبرے دادی لکه رياضت په عبادت کښې مواظبت د عباداتو صبر د هغے په مشقتونو باندے غصه منع کول. عفوه . حلم. صدقه ، جهاد وغيره. او د نفس خواهشونه دادی لکه شراب څکل . زنا ، د پردو ښځو سره ملاقات . غيبت . دروغ او لوبے موبے وغيره او کومے خبرے چه مباح دی هغه په دے کښې داخلے نهٔ دی اګر چه کثرت د هغے مکروه دے د دے يرے نه چه هسے نه حرامو ته ئے بوزی. يا زړهٔ لره سخت کړی يا ئے په عباداتو کښې غافله کړی (نووی)

خوندونه او نعمتونه چه معلوم دی هغه څنگه مزیدار او خوارۀ دی. نو د جنت د نعمتونو او خوندونو چه د هغے پوره علم الله تعالی بل چا ته نۀ دے ورکړے چه هغه به څنگه وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ ذُخْرًا بَلْهَ مَا أَطْلَعَكُمُ اللهُ عَلَيْهِ ثُمَّ قَرَأَ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. ما تیار کړی دی د خپلو نیکو بندیگانو دپاره دا سے نعمتونه چه نۀ سترگو لیدلی دی او نۀ غوږونو اوریدلی دی او نۀ د یو سړی په زړۀ باندے د هغے خیال تیر شوے دے. د هغه نعمتونو د هغوی په مقابله کښې څۀ حیثیت دے کوم چه اللهؐ تاسو ته ښودلی دی. بیا حضرتﷺ دا ایت اولوستۀ (ترجمه) هیچوك نۀ پوهیږی څۀ چه پټ کړی شوی دی د هغوی دپاره د هغوی د سترگو د یخوالی نه

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ يَقُولُ شَهِدْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَجْلِسًا وَصَفَ فِيهِ الْجَنَّةَ حَتَّى انْتَهَى ثُمَّ قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آخِرِ حَدِيثِهِ فِيهَا مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ ثُمَّ اقْتَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ

د سهل بن سعد ساعدیؓ نه روایت دے وائی چه زۀ د رسول اللهﷺ په یو مجلس کښې حاضر وم. حضرت د جنت حال بیان کړو او بے حده تعریف ئے اوکړو. بیائے په آخر کښې اوفرمائیل په جنت کښې هغه نعمت دے چه هغه نۀ یوے سترگے لیدلے دے او نۀ یو غوږ اوریدلے دے نۀ د چا بنده په ذهن کښې تیر شوے دے بیا ئے دا ایت اولوستۀ. د کومو خلقو ډډے چه د بسترو نه جدا دی (یعنی د شپے پاځی) او آواز کوی خپل رب ته د هغۀ د عذاب د یرے نه او د هغۀ د ثواب په طمع سره او مونږ چه څۀ ورکړی د هغے نه خرچ کوی. نو چا ته پته نشته چه څۀ پټ ایخودے شوی د هغوی دپاره د سترگو د یخوالی دے. دا بدله ده د هغوی د عملونو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ سَنَةٍ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی په جنت کښې یوه اونه ده چه د هغے په سوری کښې د سلو کالو پورے شاهسوار ځی (نو هغه سورے به ختم نۀ شی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَزَادَ لَا يَقْطَعُهَا

د ابوهریرهؓ نه هم دغسې روایت دے او دا پکښې زیاته ده چه د سلو کالو پورې سور په دے کښې ځي لیکن، نو دے لره به ختم نه کړي

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا قَالَ أَبُو حَازِمٍ فَحَدَّثْتُ بِهِ النُّعْمَانَ بْنَ أَبِي عَيَّاشٍ الزُّرَقِيَّ فَقَالَ حَدَّثَنِي أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ الْجَوَادَ الْمُضَمَّرَ السَّرِيعَ مِائَةَ عَامٍ مَا يَقْطَعُهَا

د سهل بن سعدؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی په جنت کښې یوه اونه ده چه د هغې په سوری به سل کاله یو شاهسوار روان وی او هغه به ختم نه شی. ابو حازم وائی ما دا حدیث نعمان بن ابی عیاش زرقی ته بیان کړو. هغوی اووے ما ته ابوسعید خدریؓ بیان کړے دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی په جنت کښې یوه اونه ده چه د هغې د لاندے د ښه تیار شوی تیز اس سور سل کاله ځی نو هغه لره به ختم نه کړے شی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ فَيَقُولُونَ لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ فَيَقُولُ هَلْ رَضِيتُمْ فَيَقُولُونَ وَمَا لَنَا لَا نَرْضَى يَا رَبِّ وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ فَيَقُولُ أَلَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ فَيَقُولُونَ يَا رَبِّ وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذَلِكَ فَيَقُولُ أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی بیشکه الله تعالی به جنتیانو ته اوفرمائی اے جنتیانو! نو هغوی به اووائی مونږ حاضر یو اے ربه زمونږه ټوله نیکی او خیر ستا په لاسو کښې دے. اللهؒ به اوفرمائی تاسو راضی شوئ؟ هغوی به اووائی څنګه به نه راضی کیږو تا خو مونږ له دومره څه راکړل چه دومره د پخپل مخلوق کښې چا له نه دی ورکړی. پروردګار به اوفرمائی زهٔ به تاسو له د دے نه هم ښه څیز درکړم. هغوی به عرض اوکړی اے ربه د دے نه بل ښه څیز څهٔ دے. الله به فرمائی زهٔ تاسو نه راضی شوم او د دے نه پس به پتاسو چرته نه غصه کیږم.[1]

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ الْغُرْفَةَ فِي الْجَنَّةِ كَمَا تَرَاءَوْنَ

د سهل نه سعدؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه جنتی خلق به یو بل په کړکو کښې داسې وینی لکه تاسو چه په آسمان کښې ستوری وینئ (یعنی د یو بل نه به دومره اوچت او لرے وی په

[1] سبحن الله د مالك رضامندی د غلام دپاره داسے نعمت دے چه د جنت ټول نعمتونه د هغې نه قربان شه

الْكَوْكَبَ فِي السَّمَاءِ قَالَ فَحَدَّثْتُ بِذَلِكَ النُّعْمَانَ بْنَ أَبِي عَيَّاشٍ فَقَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ كَمَا تَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ فِي الْأُفُقِ الشَّرْقِيِّ أَوِ الْغَرْبِيِّ

وجه د تفاوت د درجو، ابو حازم وائي چه ما دا حديث نعمان بن ابي عياش ته بيان كړو. هغوي اووے ما د ابوسعيد خدري نه اوريدلي دي چه ونيلي ئے وو. لكه څنګه چه تاسو غټ ستورے د لعل پشان پرقيدونكے د مشرق يا د مغرب په غاړه باندے وينئ.

عَنْ أَبِي حَازِمٍ بِالْإِسْنَادَيْنِ جَمِيعًا نَحْوَ حَدِيثِ يَعْقُوبَ

ابو حازم په دواړو اسنادو سره د يعقوب د حديث پشان روايت كړے دے

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الْغُرَفِ مِنْ فَوْقِهِمْ كَمَا تَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ الْغَابِرَ مِنَ الْأُفُقِ مِنَ الْمَشْرِقِ أَوِ الْمَغْرِبِ لِتَفَاضُلِ مَا بَيْنَهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ تِلْكَ مَنَازِلُ الْأَنْبِيَاءِ لَا يَبْلُغُهَا غَيْرُهُمْ قَالَ بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ رِجَالٌ آمَنُوا بِاللَّهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِينَ

د ابوسعيد خدري‌ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي جنتي خلق به د خان دپاسه كړكو والاؤ ته ګوري لكه څنګه چه ستوري وينئ او لرے وي د اسمان په غاړه باندے. په مشرق كښې يا په مغرب كښې دا به دد ے وجے نه وي چه د هغوي په درجو كښې به فرق وي. خلقو عرض اوكړو يا رسول الله! دا درجے به د پيغمبرانو وي نورو ته به نۀ ميلاويږي. حضرت ﷺ اوفرمائيل ولے نه قسم دے په هغه ذات د چا په لاس كښې چه خما روح دے. په هغه درجو كښې به هغه خلق وي چه ايمان راوړي په الله باندے او تصديق اوكړي د پيغمبرانو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ أَشَدِّ أُمَّتِي لِي حُبًّا نَاسٌ يَكُونُونَ بَعْدِي يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ رَآنِي بِأَهْلِهِ وَمَالِهِ

د ابوهريره‌ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي خما په اُمت كښې ډير خما غوښتونكي به هغه خلق وي چه خما نه پس به پيدا كيږي يو د هغوي نه دا خواهش لري چه كاش ما خپل كور والاو مال ټول هر څۀ صدقه كړے او ما لره ئے اوليدے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ فَتَهُبُّ رِيحُ الشَّمَالِ فَتَحْثُو فِي وُجُوهِهِمْ وَثِيَابِهِمْ

د انس بن مالك‌ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي په جنت كښې يو بازار دے چه په هغے كښې به جنتيان په هره جمعه راجمع كيږي بيا به شمالي هوا چليږي نو د هغے ګردو غبار، چه د مشك او زعفرانو دے، به د هغوي په مخونو او كپړو باندے

فَيَزْدَادُونَ حُسْنًا وَجَمَالاً فَيَرْجِعُونَ إِلَى أَهْلِيهِمْ وَقَدِ ازْدَادُوا حُسْنًا وَجَمَالاً فَيَقُولُ لَهُمْ أَهْلُوهُمْ وَاللَّهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالاً فَيَقُولُونَ وَأَنْتُمْ وَاللَّهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالاً

پریوځی او د هغوی حسن او جمال به زیاتوی بیا به واپس د خپل کور والاؤ په طرف راځی او د کور والاؤ به هم حُسن او جمال سوا شوے وی پس هغوی ته به کور والا اووائی قسم په خدائے چه ستاسو حُسن او ښائست خو زمونږ نه پس ډیر سوا شوے دے بیا به هغه جواب ورکړی په الله قسم دے چه ستاسو هم حُسن او ښائست زمونږ نه پس سوا شوے دے.

عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ إِمَّا تَفَاخَرُوا وَإِمَّا تَذَاكَرُوا الرِّجَالُ فِي الْجَنَّةِ أَكْثَرُ أَمِ النِّسَاءُ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَوَلَمْ يَقُلْ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَالَّتِي تَلِيهَا عَلَى أَضْوَإِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ اثْنَتَانِ يُرَى مُخُّ سُوقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ وَمَا فِي الْجَنَّةِ أَعْزَبُ

د محمدؒ نه روایت دے وائی خلقو فخر اوکړو یا ئے ذکر اوکړو چه په جنت کښې به سړی زیات وی او که ښځې به زیاتے وی. ابوهریرهؓ اووے ولے ابوالقاسم یعنی رسول اللهﷺ نۀ دی فرمائیلی چه بیشکه رومبے جماعت چه کوم جنت ته ځی هغه به د څوارلسمے شپے د سپوږمۍ پشان وی. او په هغې وروستے جماعت به د اسمان د لوئے پرقیدونکی ستوری پشان وی. په هغوی کښې به د هر سړی دپاره دوه دوه بیبیانے وی چه د هغوی د پنډو پوستکے به د غوښے نه ډك په نظر راځی. او په جنت کښې به څوك بے بی بی نه نۀ وی[1]

عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ اخْتَصَمَ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ أَيُّهُمْ فِي الْجَنَّةِ أَكْثَرُ فَسَأَلُوا أَبَا هُرَيْرَةَ فَقَالَ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ

د محمد بن سیرینؒ نه روایت دے وائی چه سړی او ښځې په جهګړه شو چه په جنت کښې به څوك زیات وی. نو د ابوهریرهؓ نه ئے تپوس اوکړو هغوی اووے ابوالقاسمﷺ فرمائیلی دی. بیائے بیان کړو حدیث لره په داسے شان لکه چه پورته ذکر شو

---

[1] قاضیؒ وائی د ظاهر حدیث نه دا معلومیږی چه په جنت کښې به ښځې زیاتے وی. او په بل حدیث کښې دی چه په جهنم کښې به ښځې زیاتی وی. پس د دواړو حدیثونو نه دا خبره معلومه شوه چه خلقت د ښځو په نسبت د سړو زیات دے او دا حدیث د ...رو ښځو سره متعلق دے او حورے د جنت به دد ے نه علاوه وی په دے زمانه کښې د مردم شماری په بنا په زیاتو خایونو کښې د دغه تحقیق اوشو چه ښځے په نسبت د سړو زیاتے دی او ښځے په نسبت د سړو کمے مرے کیږی. پس زمونږ په شریعت کښې چه یو سړی ته څو ښځې جائز دی هغه د فطرت او مصلحت موافق دی او قیاس په حضرت آدم علیه السلام باندے صحیح نه دے ولے چه هغه وخت بله یوه ښځه نه وه دد ے نه علاوه په حضرت حواؑ کښې هغه صفات وو چه هغه په نورو ښځو کښې نشته دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَالَّذِينَ يَلُونَهُمْ عَلَى أَشَدِّ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً لَا يَبُولُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَمْتَخِطُونَ وَلَا يَتْفُلُونَ أَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ وَرَشْحُهُمُ الْمِسْكُ وَمَجَامِرُهُمُ الْأَلُوَّةُ وَأَزْوَاجُهُمُ الْحُورُ الْعِينُ أَخْلَاقُهُمْ عَلَى خُلُقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ عَلَى صُورَةِ أَبِيهِمْ آدَمَ سِتُّونَ ذِرَاعًا فِي السَّمَاءِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے واني چه رسول اللهﷺ فرمانیلي دي د تولو نه مخکښ چه به کوم تولګے جنت ته ځي هغه به د څوارلسمے شپے د سپوږمۍ پشان وي. د هغے نه پس چه کوم تولګے ځي هغه به د تولو نه د زیات پړقیدونکي ستوري پشان وي او جنتیان به نه متیازے کوي نه لوئي اودس ماتے نه به لاړے توکي نه به پوزه سونړه وي د هغوی ګومنزے به د سروزرو وي او د خولے نه به ئے د مشکو خوشبوئي راځي. د هغوی په انګیټو کښ به عود لوګے کولے شي او د هغوی بیبیانے به حورے وي غټو سترګو والا او د هغوی عادتونه به د یو سړي د عادت پشان وي (یعني د تولو اخلاق به یو شان وي) د خپل پلار آدم علیه السلام په صورت به وي شپیتهٔ لاسه قد به ئے وي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ عَلَى أَشَدِّ نَجْمٍ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً ثُمَّ هُمْ بَعْدَ ذَلِكَ مَنَازِلُ لَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَبُولُونَ وَلَا يَمْتَخِطُونَ وَلَا يَبْزُقُونَ أَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ وَمَجَامِرُهُمُ الْأَلُوَّةُ وَرَشْحُهُمُ الْمِسْكُ أَخْلَاقُهُمْ عَلَى خُلُقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ عَلَى طُولِ أَبِيهِمْ آدَمَ سِتُّونَ ذِرَاعًا قَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ عَلَى خُلُقِ رَجُلٍ وَقَالَ أَبُو كُرَيْبٍ عَلَى خَلْقِ رَجُلٍ وَقَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ عَلَى صُورَةِ أَبِيهِمْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمانیلي دي د تولو نه مخکښ رومبے تولګے چه جنت ته به ځي ځما د امت نه هغه به د څوارلسمے شپے د سپوږمۍ پشان به وي. بیا چه کوم تولګے د هغوی نه روستو ځي هغه به په اسمان کښ د تولو نه زیات پړقیدونکي ستوري پشان وي. بیا به د هغوی نه روستو ځو درجے به وي هغوی به د تیازے غټ اودس ماتے نهٔ کوي نهٔ به پوزه سونړه وي نهٔ به لاړے توکي. د هغوی ګومنزے به د سروزرو وي او د هغوی اخلاق به د یو سړي اخلاق وي (یعني د تولو اخلاق به یو شان وي) او ګدوالے بني د خپل پلار آدم په قد شپیتهٔ ګزه وي. ابن ابي شیبه وئیلي دي تول به د خپل پلار (آدمؑ) په شکل وي

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

همام بن منبّه وئیلي دي چه مونږ ته ابوهریرهؓ حدیث بیان کړو د رسول اللهﷺ نه او ویدلے رسول اللهﷺ فرمانیلي دي د تولو

فَذكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَلِجُ الْجَنَّةَ صُوَرُهُمْ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لاَ يَبْصُقُونَ فِيهَا وَلاَ يَمْتَخِطُونَ وَلاَ يَتَغَوَّطُونَ فِيهَا آنِيَتُهُمْ وَأَمْشَاطُهُمْ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَمَجَامِرُهُمْ مِنَ الأَلُوَّةِ وَرَشْحُهُمُ الْمِسْكُ وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ يُرَى مُخُّ سَاقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ مِنَ الْحُسْنِ لاَ اخْتِلاَفَ بَيْنَهُمْ وَلاَ تَبَاغُضَ قُلُوبُهُمْ قَلْبٌ وَاحِدٌ يُسَبِّحُونَ اللهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا

نه اولنۍ ټولګۍ چه جنت ته به داخليږي د هغوی شکلونه به د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان وي. نو به په هغې کښې توکي او به پکښې پوزه سونړه وي او نه به پکښې اودس ماتې کوي. د هغوی لوښي او د هغوی ګومنځې به سروزرو او د سپينو زرو وي. او د هغوی انګيټۍ به عود سوزوي د هغوی خوله به مشك وي. او په دوی کښې به د هر يو دوه بيبيانې وي د هغوی د پنډو نلې به د دننه د غوښې نه په نظر راځي. نه به په دوی کښې اختلاف وي نه بُغض د هغوی زړونه به د يو زړه پشان وي. هغوی به د خپل رب پاکي بيانوی سحر او مابنام (يعنی تسبيح به کوی)

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُونَ فِيهَا وَيَشْرَبُونَ وَلاَ يَتْفُلُونَ وَلاَ يَبُولُونَ وَلاَ يَتَغَوَّطُونَ وَلاَ يَمْتَخِطُونَ قَالُوا فَمَا بَالُ الطَّعَامِ قَالَ جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ

د جابرؓ نه روايت دے وائي چه ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئې وو. جنتيان به خوري او څښي. نه به توکي او نه به متيازې او پاخانه کوي نه به پوزه سونړه وي. خلقو عرض اوکړو چه بيا خوراك به څرته ځي. حضرتﷺ اوفرمائيل يو ډرقې به اوکړي او خوله به پرې راشي چه په هغې کښې به د مشکو خوشبوئي وي (پس په ډرقي او خوله سره به خوراك تحليل شي، او تسبيح او تحميد (يعنی د سُبحٰن الله او الحمد لله) به هغوی ته الهام وي لکه چه د ساه الهام کيږي[۱]

عَنِ الأَعْمَشِ بِهَذَا الإِسْنَادِ إِلَى قَوْلِهِ

د اعمش نه په دے اسناد سره رَشحِ المِسك پورے روايت

---

[۱] يعنی جنت يوه پاکه دنيا ده د هغه ځائے د خوراك فضله د دے دنيا پشان نه ده. بلکه د هغه ځائے فُضله به د ډرقي او خوشبو دارے خولې په وتلو سره اوځي او لکه څنګه چه د دے دنيا ژوند په هوا راښکودو او ساه اخستلو باندے موقوف دے دغه شان په هغه پاك دنيا کښې سبحن الله او الحمد لله وئيل د ساه اخستل قائم مقام شي او د روح راحت وي.

نوويؒ وائي د اهل سنت او مسلمانانو اکثرو مذهب دا دے چه د جنت خلق به خوري او څښي او تولې مزے به اوچتوي په جنت کښې او دا نعمتونه به هميشه هميشه وي څرته به هم نه ختميږي او د جنت نعمتونه د دنيا د نعمتنو سره مشابه دي په صورت او نوم کښې او حقيقت د هغې خانله دے

كَرَشْحِ الْمِسْكِ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فِيهَا وَيَشْرَبُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَمْتَخِطُونَ وَلَا يَبُولُونَ وَلَكِنْ طَعَامُهُمْ ذَاكَ جُشَاءٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالْحَمْدَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ قَالَ وَفِي حَدِيثِ حَجَّاجٍ طَعَامُهُمْ ذَلِكَ

دے

د جابر بن عبد الله نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي جنت والا به په جنت كښې خورې څښې ليكن نه به اودس ماتے كوي نه به پوزه سونړوي نه به متيازے كوي هغوي ته د خوراك نه روستو درقې راخي او خوله به پشان د مشك د خوشبوئي دوي ته به تسبيح او تحميد داسے بخښلے شوے وي څنګه چه تاسو ته ساه بخښلے شوے ده.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَيُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّكْبِيرَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ

جابر د رسول الله ﷺ نه د پورتني حديث پشان روايت كړو. مګر په دے كښې دي. هغه تسبيح او تكبير به او بخښلے شي څنګه چه ساه اخستل بخښلے شوے دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ لَا تَبْلَى ثِيَابُهُ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي څوك چه جنت ته لاړ شي په آرام به وي بے غمه به وي نه به ئے چرته كپړے خيرنيږي نه به ئے ځواني ختميږي (يعني هميشه به ځوان وي چرته به نه بوډا كيږي)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَأَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُنَادِي مُنَادٍ إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْأَسُوا أَبَدًا فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ

د ابو سعيد خدري او د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي يو آواز كونكے به آواز اوكړي (د جنت خلقو ته) هميشه ستاسو دپاره دا مقرر شوه چه تاسو به صحت منديئ چرته به نه بيماريږئ هميشه په ژوندي يئ چرته به نه مړه كيږئ او هميشه به ځوانان يئ چرته به نه بوډاګان كيږئ او هميشه به عيش او آرام كښې يئ چرته به نه غمژن كيږئ او دغه مطلب دے د الله د دے قول چه يو آواز كونكے به آواز وركړي دا ستاسو جنت دے د كوم چه تاسو وارثان شوئ د دے وجے نه چه تاسو نيك عملونه كول[1]

---

[1] د ابه فرښته په جنتيانو كښې آواز اوكړي د دے دپاره چه دوي ته څه يرد نه وي

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ لِلْمُؤْمِنِ فِي الْجَنَّةِ لَخَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ وَاحِدَةٍ مُجَوَّفَةٍ طُولُهَا سِتُّونَ مِيلًا لِلْمُؤْمِنِ فِيهَا أَهْلُونَ يَطُوفُ عَلَيْهِمِ الْمُؤْمِنُ فَلَا يَرَى بَعْضُهُمْ بَعْضًا

د عبدالله بن قیس یعنی ابوموسی اشعریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مومن ته به په جنت کښې د یوے خولدارے ملغلرے خیمه میلاؤ شی او د هغے اوږد والے به د شپیتۀ میله پورے وی په هغے کښې به ددغه مؤمن بیبیانے وی او هغه به په هغوی باندے چا پیره ګرځی. پس نۀ به وینی بعضے د دوی نه بعضو نورو لره (په وجه د ارت والی)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الْجَنَّةِ خَيْمَةٌ مِنْ لُؤْلُؤَةٍ مُجَوَّفَةٍ عَرْضُهَا سِتُّونَ مِيلًا فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ مَا يَرَوْنَ الْآخَرِينَ يَطُوفُ عَلَيْهِمِ الْمُؤْمِنُ

د عبد الله بن قیس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په جنت کښې به د یوے خولدارے ملغلرے خیمه وی چه د هغے پلنوالے به شپیتۀ میله وی د هغے په هر ګوټ کښې به خلق وی چه د بل ګوټ والا هغه به نۀ وینی مؤمن به په هغوی باندے دوره کوی (ځکه چه هغه خلق به د مؤمن کور والا وی)

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَيْمَةُ دُرَّةٌ طُولُهَا فِي السَّمَاءِ سِتُّونَ مِيلًا فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ لِلْمُؤْمِنِ لَا يَرَاهُمُ الْآخَرُونَ

د ابو موسی اشعریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خیمه به د یوے ملغلرے وی چه د هغے اوږد والے او دنګ والے به شپیتۀ میله وی. د هغے په هر ګوټ کښې به د مسلمان بیبیانے وی چه هغه به نور خلق نۀ شی لیدے (یعنی د یو محل خلق به د بل محل خلق نۀ وینی په وجه د فراخوالی او لرے والی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ وَالْفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی سیحان او جیحان او نیل او فُرات د جنت نهرونه دی[1]

---

[1] نوویؒ وائی سیحان او جیحان . د جیحون نه علاوه دی. دا سیحان او جیحان کوم چه په حدیث کښې ذکر کړے شوی دی د ارمن په بلاد کښې دی نو جیحان د مصیصه نهر دے او سیحان د اذنه او دا دواړه ډیر لوئے نهرونه دی په دے دواړو کښې جیحان لوئے دے او جوهری چه په صحاح کښې ونیلی دی چه جیحان په شام کښې یو نهر دے غلطه ده. یا د شام نه مراد د ارمن بلاد دی مجازاً په وجه د قرب. حازمی وائی سیحان د مصیصه په خوا کښې یو نهر دے او هغه سیحون نه علاوه دے. صاحب نهایه وائی سیحان او جیحان دواړه نهرونه په عواصم کښې د مصیصه سره دی او د طرطوس او جیحون هغه نهر دے د خراسان نه بهر د بلخ سره او هغه د جیحان نه علاوه دے په دے شان سیحون د سیحان مغائر دے او قصی ـ ـ ـ ـ چه کوم ونیلی دی چه په بلاد اسلام کښې دا څلور لوئے نهرونه دی نیل په مصر کښې فرات په عراق کښې او سیحان او جیحان یا سیحون او جیحون په خراسان کښې نو په دے کښې څو غلطئ دی یو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمانيلي دي جنت ته به څهٔ خلق ځي چه د هغوی زړونه به د مرغو په شان وي[1]

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا بِهِ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلَقَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ طُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا فَلَمَّا خَلَقَهُ قَالَ اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولٰئِكَ النَّفَرِ وَهُمْ نَفَرٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ جُلُوسٌ فَاسْتَمِعْ مَا يُجِيبُونَكَ فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ قَالَ فَذَهَبَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَالُوا السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ قَالَ فَزَادُوهُ وَرَحْمَةُ اللهِ قَالَ فَكُلُّ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ آدَمَ وَطُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا فَلَمْ يَزَلِ الْخَلْقُ يَنْقُصُ

همام بن منبه د ابوهريرهؓ نه روايت کړے دے چه رسول اللهﷺ فرمانيلي دي چه الله آدم عليه السلام جوړ کړو پخپل صورت باندے او د هغوی قد شپیتهٔ لاسه وو. هر کله چه هغه تيار شو نو ورته ئے اوفرمانيل لاړ شه او هغه فرښتو ته سلام اوکړه او هلته څو فرښتے موجود وے او واوره چه هغه تا ته څهٔ جواب درکوی ولے چه ستا او ښتا د اولاد دغه سلام دے. حضرت آدمؑ لاړو او ورته ئے اووے السلام عليكم .فرښتو په جواب کښ اووے السلام عليك ورحمة الله نو ورحمة الله ئے زيات کړو. نو څوک چه جنت ته ځي هغه به د آدم په صورت باندے وي يعني شپیتهٔ لاسه اوږد. حضرتﷺ فرمانيلي دي آدمؑ شپیتهٔ لاسه وو بيا د هغوی نه پس د خلقو قدونه کميدل تر اوسه پورے[2].

خو دا فرات په عراق کښ نه دے بلکه هغه فاصل دے د شام او د جزيرے په مينځ کښ دويم سيحان او جيحان خانله دي او سيحون او جيحون خانله دي او دريم دا چه سيحان او جيحان په شام کښ نه دي بلکه د ارمن په بلاد کښ شام ته نږدے دي. او دا چه ئے کوم فرمانيل چه د جنت نهرونه دي د دے دوه معنی دي يو خو دا چه هلته به اسلام خور شي او د دے نهرونو اوبهٔ چه د دے نه د مسلمانانو جسم جوړيږي جنت ته به ځي. دويم دا چه په حقيقت کښ په دغه نهرونو کښ د جنت يوه ماده ده ولے چه جنت پيدا شوے دے او موجود دے. او د اهل سنت دغه مذهب دے او دغه معنی صحيح ده. او په کتاب الايمان کښ تير شوی دي چه فُرات او نيل د جنت نه راوتلی دي او په بخاري کښ دي چه د سدرة المنتهى د زيلے نه انتهى

[1] يعني نرم او کمزوري د الله د يرے نه يا د متوکل چرچڼو پشان

[2] الله جل جلاله آدم عليه السلام جوړ کړو په خپل صورت باندے يعني د آدمؑ په صورت باندے يعني کوم صورت چه ئے په دنيا کښ وو او په کوم باندے چه وفات شو په دغه صورت پيدا شو. او د دے حديث شرح پورته تيره شوے ده آدم عليه السلام د شپیتهٔ لاسو وو بيا د هغوی نه پس قدونه کميدل يعني د آدم عليه السلام نه چه څومره زمانه لرے کيده د بنيادمو قدونه کميدل په جنت کښ به ټول برابر وي هر څو د شپیتهٔ لاسو قد په هغه وخت کښ خوشنما نه معلوميدو په دی واسطه چه زمونږ قدونه واړهٔ واړهٔ دي ليکن په جنت کښ به خوشنما معلوميږي خکه ټول به برابر وي د دے حديث نه معلومه شوه چه السلام عليکم ټول او په جواب کښ و عليکم

بعده حتى الآن

بَابُ جَهَنَّمَ أَعَاذَنَا اللهُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَارُكُمْ هَذِهِ الَّتِي يُوقِدُ ابْنُ آدَمَ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ حَرِّ جَهَنَّمَ قَالُوا وَاللهِ إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَإِنَّهَا فُضِّلَتْ عَلَيْهَا بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا كُلُّهَا مِثْلُ حَرِّهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي الزِّنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ سَمِعَ وَجْبَةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَدْرُونَ مَا هَذَا قَالَ قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ هَذَا حَجَرٌ رُمِيَ بِهِ فِي النَّارِ مُنْذُ سَبْعِينَ خَرِيفًا فَهُوَ يَهْوِي

باب د جنهم بيان خدائے د مونږ د دے نه بچ کړی

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی په هغه ورځ چه جهنم راوستے شی د هغے به اويازره واګے وی هره واګه بئے اويازره فرښتے راکاږی (نو ټولے فرښتے چه جهنم راکاږی څلور ارب لس اتيا کروړه شوے)

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی دا أوړ چه کوم بنيادم بلوی دا يوه حصه ده د اوياؤ حصو ګرمئ د جهنم نه خلقو عرض اوکړو په الله قسم دے دغه أوړ کافی وو (د سيزلو دپاره) يا رسول الله! حضرتﷺ اوفرمائيل هغه خو دد دے نه په نهه شپيتو باندے حصے زيات ګرم دے په هره حصه کښ دومره ګرمی ده.

ابوهريرهؓ د رسول اللهﷺ نه د ابوالزناد حديث په پشان مګر په دے کښ دی چه د هغے ټولے حصے د هغے د ګرمئ برابر دی

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائی چه مونږ د رسول اللهﷺ سره وو چه په دے کښ د يوے دهماکے آواز راغے حضرتﷺ اوفرمائيل دا يوه ګټه ده چه جهنم ته غورځولے شوے وه اويا کاله مخکښ هغه روانه وه اوس د هغے ويخ ته اورسيده (معاذ الله جهنم څومره ژور دے چه د هغے ويخه پورے د اويا کالو لار ده او هغه هم په دومره تيز حرکت

السلام ورحمة الله ونيل د حضرت آدم سنت دی څوک چه سلام عليك پريږدی بندګی يا مجرا يا کورنش اوکړی هغه په حقيقت کښ ناخلف دے چه دا د خپل پخوانی خاندان لاره پريخوده. بلکه چا چه د آدم طريقه پريخوده کومه چه الله تعالی هغوی ته ښودلے ده هغه بنده نه دے (تحفة الاخيار)

فِي النَّارِ الْآنَ حَتَّى انْتَهَى إِلَى قَعْرِهَا

سره چه کته د پورته نه ښکته غورزېږی،

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ هَذَا وَقَعَ فِي أَسْفَلِهَا فَسَمِعْتُمْ وَجْبَتَهَا

د ابوهریرهؓ دغسې روایت دے خنګه چه پورته تیر شو په دے کښې دادی چه هغه کته ښکته او غورزیده نو تاسو د هغې دهماکه واوریده

عَنْ سَمُرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ نَبِيَّ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ إِنَّ مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ إِلَى حُجْزَتِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ إِلَى عُنُقِهِ

د سمرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی وو ځنې به د ګټو پورے اُور نیولی وی. او ځنې به د ملا پورے او ځنې به د غاړے پورے اُور نیولی وی.

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى حُجْزَتِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ

د سمره بن جندبؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی ځنو لره به د جهنم اُور ګټو پورے نیولی وی ځنو لره د زنګونانو پورې او ځنو لره د ملا پورے او ځنو لره د اوږو پورے

عَنْ سَعِيدٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَجَعَلَ مَكَانَ حُجْزَتِهِ حِقْوَيْهِ

د سعید نه په دے اسناد سره روایت دے په دے کښې د حُجز په ځائے حِقو دے حِقو هم ملا ته وائی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَّتِ النَّارُ وَالْجَنَّةُ فَقَالَتْ هَذِهِ يَدْخُلُنِي الْجَبَّارُونَ وَالْمُتَكَبِّرُونَ وَقَالَتْ هَذِهِ يَدْخُلُنِي الضُّعَفَاءُ وَالْمَسَاكِينُ فَقَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لِهَذِهِ أَنْتِ عَذَابِي أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ وَرُبَّمَا قَالَ أُصِيبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ وَقَالَ لِهَذِهِ أَنْتِ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْكُمَا مِلْؤُهَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی جنت او دوزخ جهګړه او کړه. دوزخ اووے ما ته به لوئے لوئے زور دار او مغرور د خلق راځی او جنت اووے ما ته به کمزوری او مسکین خلق راځی الله جل شانه دوزخ ته اوفرمائیل ته ځما عذاب ئے زهٔ چه چا لره غواړم پتا به ئے عذابوم. او جنت ته ئے اوفرمائیل ته ځما رحمت ئے په تا به رحم کوم او تاسو دواړه به د دوئ نه ډکیږئ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَحَاجَّتِ النَّارُ وَالْجَنَّةُ فَقَالَتِ النَّارُ أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِينَ وَالْمُتَجَبِّرِينَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل جنت او دوزخ بحث اوکړو. دوزخ اووے ما ته به هغه خلق راځی چه هغه متکبر او زور والا وی او جنت اووے ماله څهٔ دی ما ته به نه داخلیږی مګر

وَقَالَتِ الْجَنَّةُ فَمَا لِي لَا يَدْخُلُنِي إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ وَعَجَزُهُمْ فَقَالَ اللهُ لِلْجَنَّةِ أَنْتِ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَقَالَ لِلنَّارِ أَنْتِ عَذَابِي أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْكُمْ مِلْؤُهَا فَأَمَّا النَّارُ فَلَا تَمْتَلِئُ فَيَضَعُ قَدَمَهُ عَلَيْهَا فَتَقُولُ قَطْ قَطْ فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ

هغه خلق چه کمزوری دی پریوتی دی او عاجزان دی (یعنی اکثر به دغه خلق وی) پس الله تعالی جنت ته اوفرمائیل ته خما رحمت ئے زۀ پتا سره رحمت کوم چه په چا اوغوارم د خپلو بندیګانو نه او دوزخ ته ئے اوفرمائیل ته خما عذاب ئے عذابوم پتا سره هغه چا لره چه زۀ اوغوارم د خپلو بندیګانو نه او تاسو دواړه به ډك شئ لیکن دوزخ به نه ډکیږی (او نه به مړیږی) بیا به پروردګار خپل قدم په هغے کښ کیږدی او به وائی بس بس بیا به ډك شی او یو په بل باندے به راغونډ شی[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی په جنت او

---

[1] نوویؒ وائی دا حدیث د صفاتو د حدیثو نه دے. او پورته ذکر شو چه په دے حدوثو کښ دوه مذهبه دی. یو خو جهمور سلف او د متکلمینو تولے هغه دے چه د هغے تاویل نه کوی بلکه ایمان پرے راوړی چه حق دی. او مراد هغه معنی ده چه د الله تعالی لائقه ده او ظاهری معنی ئے مراد نه ده (یعنی هغه ظاهری چه متعارف ده او د مخلوقاتو سره خاص ده) دویم مذهب د جمهور متکلمینو دا دے چه د هغے تاویل کوی څنګه چه لائق دے ددے مذهب موافق ددے حدیث په تاویل کښ اختلاف دے ځنے وائی د قدم نه مراد متقدم دے یعنی هغه خلق به اړدی چه د مخکښ نه الله تعالی تیار کړی وی د عذاب دپاره. دویم دا چه د قدم نه د بعضے مخلوقاتو قدم مراد دے. دریم دا چه د قدم نه څۀ مخلوق مراد دے.

د اردو کتاب (مترجم وائی چه دا تول تاویلات فاسده دی. او د قدم نه مراد د پروردګار قدم مراد دے او د امام مسلمؒ په دویم روایت کښ د رِجل لفظ موجود دے او هغه د قدم مترادف دے او د رِجل نه د جماعت مراد اخستل د حدیث ابطال دے خکه چه دویم روایت د قدم تائید کوی د رِجل د ظاهری معنی او پوهیږم چه دغه متکلمینو داسے تاویلونه ولے کړی دی. او ایات او بے شماره احادیثو لره ئے په خپل فاسد ګمان سره ولے وران کړی دی خومره به ښۀ وو کچرے هغه خپل ګمان لره په هغه آیت او احادیث سره وران کړے وے. او کومه تنزیه چه هغوی په خپل زړۀ سره ترشلے دے ددے نه قلار شوے وے. الله تعالی چه د کومو خبرو نه پاك دے هغه ئے په قرآن مجید کښ بیان کړی دی. نۀ هغه د چا نه پیدا دے نۀ د هغۀ نه څوك پیدا دی او نۀ د هغۀ د مثل او د هغۀ برابر څوك شته په حدیث کښ دی چه هغه نه خوری نه څښی نه اوده کیږی نه ورله پریشانی راځی د هغۀ په ذات کښ څۀ عیب نشته دے بس دغه تنزیه شرعی ده او کومے خبرے چه الله تعالی د خپل خان دپاره ثابتے کړے دی یا د هغۀ رسول ثابتے کړے دی د هغے نه تنزیه کول حماقت او بیوقوفی ده لکه کوزیدل. ختل، خندل، کتل، اوریدل. تعجب کول کیناستل. آواز ورکول. خبرے کول. تلل راتلل. لاس. سترګے. خپے. مخ. قدم دا تول صفات د قرآن او حدیث نه ثابت دی. په دے باب کښ دومره بے شماره ایتونه او احادیث دی چه د تاویل او د تحریف ګنجائش نشته. خکه چه صحیح او اسلم هغه چال دے کوم چه د سلفو رحمهم الله چا وو چه کوم صفات د پروردګار په قرآن او حدیث کښ راغلی دی هغه په خپله ظاهری معنی لغوی باندے محمول دی په هغے کښ تاویل او تحریف صحیح نۀ دے نۀ تشبیه د هغوی د مخلوقاتو د صفاتو سره ولے چه د الله جل جلاله ذات او صفات دومره پاك دی د تشبیه نه)

وسلم قال احتجت الجنة والنار واقتص الحديث بمعنى حديث أبي الزناد

دوزخ کښې بحث اوشو مخکښې پوره حديث بيان کړو د ابوالزناد د حديث پشان

عن همام بن منبه قال هذا ما حدثنا ابو هريرة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فذكر أحاديث منها وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم تَحاجَتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَقَالَتِ النَّارُ أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِينَ وَ الْمُتَجَبِّرِينَ وَقالَتِ الْجَنَّةُ فَمَا لِي لَا يَدْخُلُنِي إِلاَّ ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ وَغِرَّتُهُمْ قَالَ اللهُ لِلْجَنَّةِ إِنَّمَا أَنْتِ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَقَالَ لِلنَّارِ إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِي أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْكُمَا مِلْؤُهَا فَأَمَّا النَّارُ فَلَا تَمْتَلِئُ حَتَّى يَضَعَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى رِجْلَهُ تَقُولُ قَطْ قَطْ قَطْ فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ وَلَا يَظْلِمُ اللهُ مِنْ خَلْقِهِ أَحَدًا وَأَمَّا الْجَنَّةُ فَإِنَّ اللهَ يُنْشِئُ لَهَا خَلْقًا

همام بن منبه وئيلي دي چه مونږ ته ابوهريرهؓ بيان کړو چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي چه جنت او دوزخ په خپل مينځ کښې بحث اوکړه نو دوزخ اووے چه ما ته ترجيح راکړے شوه په متکبرينو او زور والانه او جنت اووے چه خما سره څۀ اوشو چه ما کښې نه داخليږي مګر په خلقو کښې کمزورے او د کمے درجے خلق نو الله عزوجل جنت ته اوفرمائيل. تۀ خو صرف خما رحمت يې. زۀ ستا په ذريعه رحمت کوم په چا چه غواړم د خپلو بنديګانو نه. او الله عز وجل جهنم ته اووے. تۀ خو عذاب يې ستا په ذريعه چه چا ته اوغواړم عذاب ورکوم. او تاسو د دواړو به ډکول وي. ليکن دوزخ به نۀ ډکيږي ترڅو پورے الله تبارك وتعالى خپله خپه په دے کښې کے نۀ دي. (په حديث کښې د قَدَمُهُ په ځائے رِجْلَه دے او ددے نه معلوميږي چه د قَدَم نه په حديث کښې خپه مراد ده. او باطل دے قول د ابوبکر بن خورك چه هغۀ وئيلي دي چه د رِجْل روايت صحيح او ثابت نۀ دے. ځکه چه رِجْل په دے روايت کښې موجود دے او هغه صحيح دے) بيا به هغه اووائي بس بس بس دغه وخت به هغه ډك شي. او ددے بعض حصے به د بعض حصو طرف ته راغونډے شي. او الله تعالى به د خپلو مخلوقاتو نه په چا ظلم نۀ کوي او د جنت دپاره به نور مخلوق پيدا کړي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ احْتَجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ إِلَى قَوْلِهِ وَلِكِلَيْكُمَا عَلَيَّ

د ابوسعيد خدريؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ اوفرمائيل. جنت او دوزخ په خپل مينځ کښې مباحثه اوکړه بيا د ابوهريرهؓ د حديث پشان بيان کړو صرف ددے قول پورے چه ستا د دواړو ډکول خما

مِلْؤُهَا وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ مِنَ الزِّيَادَةِ

په ذمه دی او د دے نه روستو د زیات ذکر نشته

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ تَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ حَتَّى يَضَعَ فِيهَا رَبُّ الْعِزَّةِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَدَمَهُ فَتَقُولُ قَطْ قَطْ وَعِزَّتِكَ وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ

د انس بن مالک نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی همیشه دوزخ دا وینا کوی چه نور څه شته نور څه شته، یعنی نور نور خلق به غواړی، تر دے پورے چه مالک عزت والا او برکت او لوئی شان والا به خپل قدم په هغے کښې کیږدی بیا به هغه دا وائی چه بس بس. قسم دے ستا په عزت او یو په بل کښې به راغونډ شی.

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ شَيْبَانَ

انس د رسول الله ﷺ نه د شیبان د حدیث پشان روایت کړو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ يُلْقَى فِيهَا وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ حَتَّى يَضَعَ رَبُّ الْعِزَّةِ فِيهَا قَدَمَهُ فَيَنْزَوِي بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ وَتَقُولُ قَطْ قَطْ بِعِزَّتِكَ وَكَرَمِكَ وَلَا يَزَالُ فِي الْجَنَّةِ فَضْلٌ حَتَّى يُنْشِئَ اللهُ لَهَا خَلْقًا فَيُسْكِنَهُمْ فَضْلَ الْجَنَّةِ

د انس بن مالک نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی همیشه به جهنم ته خلق اچولے شی او هغه به دغه وائی چه نور شته تر دے پورے چه پروردګار به خپل قدم په هغے کښې کیږدی پس راغونډ به شی یو په بل کښې او وائی به چه بس بس قسم دے ستا په عزت او کرم او همیشه به په جنت کښې خالی ځائے وی تر دے پورے چه الله تعالی به د هغے دپاره مخلوق پیدا کړی او هغه به په هغه ځائے کښې کینوی[1].

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَبْقَى مِنَ الْجَنَّةِ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَبْقَى ثُمَّ يُنْشِئُ اللهُ تَعَالَى لَهَا خَلْقًا مِمَّا يَشَاءُ

د انس نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په جنت کښې څومره چه الله تعالی غواړی دومره ځائے به خالی پاتې شی بیا به الله تعالی د هغے دپاره نور مخلوق پیدا کړی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَاءُ بِالْمَوْتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ

د ابوسعید خدری نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د قیامت په ورځ به مرګ د یو سپین ګډوری په شکل د دوزخ او د جنت

[1] نووی وائی په دے کښې د اهل سنتو دلیل دے چه ثواب په اعمالو باندے منحصر نه دے ځکه چه دا خلق به د پیدا کیدو سره جنت ته ځی او دغه حکم دے د ماشومانو او لیونو چه هغه به هم بغیر د اعمالو جنت ته ځی د الله تعالی په رحمت او فضل سره او د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه د جنت فراخوالے بے حده دے ولے چه په صحیح حدیث کښې دی چه یو سړی ته به په جنت کښې د لسو دنیاؤ برابر ځائے میلاویږی د دے باوجود په هغے کښې خالی ځایونه وی. (انتهی)

كَبْشٌ أَمْلَحُ زَادَ أَبُو كُرَيْبٍ فَيُوقَفُ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَاتَّفَقَا فِي بَاقِي الْحَدِيثِ فَيُقَالُ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ وَيَقُولُونَ نَعَمْ هَذَا الْمَوْتُ قَالَ وَيُقَالُ يَا أَهْلَ النَّارِ هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا قَالَ فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ وَيَقُولُونَ نَعَمْ هَذَا الْمَوْتُ قَالَ فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُذْبَحُ قَالَ ثُمَّ يُقَالُ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ خُلُودٌ فَلَا مَوْتَ وَيَا أَهْلَ النَّارِ خُلُودٌ فَلَا مَوْتَ قَالَ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الدُّنْيَا

په مينځ کښې اودرولے شي. بيا به اوونيلے شي چه اے جنتيانو تاسو دے پيژنئ هغوی به سر اوچت کړي او هغه ته به اوګوري او اُوبه وائي آو مونږ پيژنو دا مرګ دے. بيا به اوونيلے شي چه اے دوزخيانو! تاسو دے پيژنئ هغه به خپل سرونه اوچت کړي او دهٔ ته به اوګوري او دا به اووائي آو. مونږه پيژنو دا مرګ دے. بيا به حکم اوشي او هغه ګډورے به ذبح کړے شي. بيا به اوونيلے شي چه اے جنتيانو تاسو به هميشه دلته ژوندي يئ چرته هم مرګ نشته دے. او اے دوزخيانو تاسو به دلته هميشه ژوندي يئ چرته هم مرګ نشته دے. بيا رسول الله ﷺ دا ايت اولوستو او يره وه هغوی لره د افسوس د ورځې نه هر کله چه حکم اوشي او دوي په غفلت کښې وي او دوي ايمان راوړي او اشاره ئے اوکړه په لاس خپل سره د دنيا په طرف (يعني په دنيا کښې داسے مشغول دي چه د قيامت يره ئے نشته)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُدْخِلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ قِيلَ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَمْ يَقُلْ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَيْضًا وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الدُّنْيَا

د ابوسعيد خدري رضی الله عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د قيامت په ورځ به مرګ راوستے شي د يو سپين ګډ په شکل کښې او د جنت او د دوزخ په مينځ کښې به ئې اودروي. بيا به اوونيلے شي اے جنتيانو! تاسو دا پيژنئ هغوی به خپل سر اوچت کړي او دے اووينی نو اوبه وائي آو مونږه ئے پيژنو. دا مرګ دے. بيا به اوونيلے شي. اے دوزخيانو! تاسو دا پيژنئ هغوی به سر اوچت کړي او اوبه ګوري نو اوبه وائي آو مونږه ئے پيژنو. دا مرګ دے بيا به حکم اوشي، هغه ګډ به ذبح کړے شي. بيا به اوونيلے شي. اے جنتيانو! تاسو به هميشه ژوندي يئ چرته به مرګ نهٔ راځي. او اے دوزخيانو! تاسو به هميشه ژوندي يئ چرته به مرګ نهٔ راځي. بيا رسول الله ﷺ دا ايت اولوستهٔ (ترجمه) او اويروه دوی د افسوس د ورځ نه هر کله چه فيصله اوشي او دوي په غفلت کښې دي او

دوي يقين نه کوي حضرت ﷺ اشاره اوکړه په خپل لاس دنيا طرف ته، يعنې په دنيا کښې داسې مشغول دي چه د قيامت پروا نشته،

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُدْخِلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ قِيلَ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَمْ يَقُلْ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَيْضًا وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الدُّنْيَا

د ابوسعيد خدري رضه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر کله چه جنتيان جنت ته داخل کړے شي او دوزخيان دوزخ ته داخل کړے شي. نو اوبه وئيلے شي اے جنتيانو. بيا ئے مخکښې د معاويه د حديث پشان روايت اوکړو مګر په دے کښې دادي چه دا د ےد الله تعالى قول او دائے نه دي وئيلي چه بيا رسول الله ﷺ اولوستو او نه ئے دا ذکر کړل چه حضرت ﷺ په لاس مبارک سره دنيا طرف ته اشاره اوکړه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُدْخِلُ اللهُ أَهْلَ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَيُدْخِلُ أَهْلَ النَّارِ النَّارَ ثُمَّ يَقُومُ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ فَيَقُولُ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ وَيَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ كُلٌّ خَالِدٌ فِيمَا هُوَ فِيهِ

د عبدالله بن عمر رضه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي الله تعالى چه جنتيان جنت ته او دوزخيان دوزخ ته اوليږي نو يو آواز کونکے به د هغوی په مينځ کښې اودريږي او اوبه وائي چه اے جنتيانو مرګ نشته دے اے دوزخيانو مرګ نشته دے. هر يو به په خپل ځائے کښې هميشه وي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا صَارَ أَهْلُ الْجَنَّةِ إِلَى الْجَنَّةِ وَصَارَ أَهْلُ النَّارِ إِلَى النَّارِ أُتِيَ بِالْمَوْتِ حَتَّى يُجْعَلَ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ ثُمَّ يُذْبَحُ ثُمَّ يُنَادِي مُنَادٍ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ وَيَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ فَيَزْدَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَرَحًا إِلَى فَرَحِهِمْ وَيَزْدَادُ أَهْلُ النَّارِ حُزْنًا إِلَى حُزْنِهِمْ

د عبد الله بن عمر رضه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر کله چه جنتيان جنت ته او دوزخيان ته لاړ شي نو مرګ به راوستے شي او د جنت او دوزخ په مينځ کښې به ذبحه کړے شي. بيا به يو آواز کونکے آواز اوکړي چه اے جنتيانو اوس مرګ نشته دے او اے دوزخيانو اوس مرګ نشته دے جنتيان چه دا واوري نو په خوشحالئ کښې به ورته خوشحالي حاصله شي. او دوزخيانو ته به په غم دپاسه غم زيات شي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضِرْسُ الْكَافِرِ أَوْ نَابُ الْكَافِرِ مِثْلُ

د ابوهريره رضه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه د کافر غاښ يا د هغه جامه به د أحد د غر برابر وي. د هغه د څرمنے غټ

أُحُدٍ وَغِلَظُ جِلْدِهِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ

والے او گندگی به د درے ورځو لاره وی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَرْفَعُهُ قَالَ مَا بَيْنَ مَنْكِبَيِ الْكَافِرِ فِي النَّارِ مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ لِلرَّاكِبِ الْمُسْرِعِ وَلَمْ يَذْكُرِ الْوَكِيعِيُّ فِي النَّارِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د کافر د دواړو اوګو په مینځ کښ به د تیزے سورلئ د درے ورځو لاره وی.

عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ قَالُوا بَلَى قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ ثُمَّ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ قَالُوا بَلَى قَالَ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ

د حارثه بن وهب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل آیا زهٔ تاسو ته د جنت خلق اونهٔ ښایم. خلقو اووے اوښایئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل د هر کمزوری خلق په نز کښ رے ذلیله قسم او خوری د الله په اعتماد سره. یقیناً چه الله هغے لره رښتونے کوی. بیائے اوفرمائیل اے زهٔ تاسو ته دوزخیان او نهٔ ښائم. خلقو عرض اوکړو ولے نه، اوښایئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل هر جهګړا کونکے ګیډه ور مغرور یا هر غټ مغرور یا هر مال جمع کونکے مغرور

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَلَا أَدُلُّكُمْ

د شعبه نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے مګر په دے کښ (د أُخْبِرُكُمْ په ځائے) أَدُلُّكُمْ دے.

عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ كُلُّ جَوَّاظٍ زَنِيمٍ مُتَكَبِّرٍ

د حارثه بن وهب خزاعی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی آیا زهٔ تاسو ته د جنتیانو په باره کښ خبر کړم هغه هر ضعیف او کمزورے چه کچرے د الله په اعتماد قسم خوری نو الله هغے لره پوره کوی بیائے اوفرمائیل آیا زهٔ تاسو خبر کړم چه دوزخ ته تلونکی څوک دی، هغه هر غټ حرام خور چغل خور یا په دهوکے سره په یو قوم کښ شریك کیدونکے غرور کونکے دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رُبَّ أَشْعَثَ مَدْفُوعٍ

د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څهٔ خلق داسے دی چه په هغوی بانده ګرد پریوتے دے د پریشانئ په

[1] دا ددے دپاره چه عذاب بنوا شی او دا بول خبرے سکنے دی او الله پرے قادر دے د مخبر صادق نے خبر ورکړے دے خکه په دے ایمان واجب دے (نووی)

بِالْأَبْوَابِ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ

حالت کښې د دروازو نه شړلے شی کچرے هغه د الله تعالی په اعتماد باندے قسم اوخوری نو الله تعالی ئے هغه قسم پوره کوی (یعنی د الله په نزد مقبول دی اګر که د دنیا دارو په نظر کښې سپك دی)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَمْعَةَ قَالَ خَطَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ النَّاقَةَ وَذَكَرَ الَّذِي عَقَرَهَا فَقَالَ إِذِ انْبَعَثَ أَشْقَاهَا انْبَعَثَ بِهَا رَجُلٌ عَزِيزٌ عَارِمٌ مَنِيعٌ فِي رَهْطِهِ مِثْلُ أَبِي زَمْعَةَ ثُمَّ ذَكَرَ النِّسَاءَ فَوَعَظَ فِيهِنَّ ثُمَّ قَالَ إِلَامَ يَجْلِدُ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ فِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ جَلْدَ الْأَمَةِ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي كُرَيْبٍ جَلْدَ الْعَبْدِ وَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِي ضَحِكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ فَقَالَ إِلَامَ يَضْحَكُ أَحَدُكُمْ مِمَّا يَفْعَلُ

د عبد الله بن زمعه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په خطبه کښې د حضرت صالح علیه السلام د اوښے ذکر اوکړو او د هغه سړی ذکر ئے اوکړو چا چه هغه اوښه زخمی کړے وه. حضرت ﷺ اوفرمائیل هر کله چه پورته شو په هغه قوم کښې لوئے بدبخت د هغه کار دپاره یو سړے عزتمند شریر مفسد د خپل خاندان زور لرلو والا لکه چه ابو زمعه دے. بیائے د ښځو ذکر اوکړو او د هغوی په مقدمه کښې ئے نصیحت اوکړو. په څۀ وجه ستاسو نه یو سړے خپله ښځه وهی لکه چه وینځه یا غلام وهی او کیدے شی هغه په دغه شپه د ځان سره سملوی (نو د شپے محبت او د ورځے سخت وهل نا مناسبه دی) بیا خلقو ته نصیحت اوکړو په تیز پسے د خندلو نه او دا ئے اوفرمائیل ولے ستاسو نه یو سړے خاندی په هغه کار پورے چه پخپله ئے هم کوی (یعنی د هوا صادر کیدل ضروری دی او هر یو سړے باد غورځوی بیا په بل پورے خندل کم عقلی توب دے)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ عَمْرَو بْنَ لُحَيِّ بْنِ قَمَعَةَ بْنِ خِنْدِفَ أَبَا بَنِي كَعْبٍ هٰؤُلَاءِ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے وائی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ما عمرو بن لحی لره اولیدۀ چه د بنی کعب د خلقو پلار وو (یعنی مشر نیکۀ) چه هغه خپلے کُلمے رانښکودے په جهنم کښې.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُولُ إِنَّ الْبَحِيرَةَ الَّتِي يُمْنَعُ دَرُّهَا لِلطَّوَاغِيتِ فَلَا يَحْلُبُهَا أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ وَأَمَّا السَّائِبَةُ الَّتِي كَانُوا يُسَيِّبُونَهَا لِآلِهَتِهِمْ فَلَا يُحْمَلُ

د ابن شهاب نه روایت دے وائی چه ما اوریدلے دے سعید بن مسیب لره دا ئے وئیل چه بحیره هغه څناور دے چه د هغۀ پے لوشل موقوف کیږی د بتانو دپاره نو څوك ... پے د هغه حروی پی نۀ شو لوشلے. او سائبه هغه څاروے دے چه هغه د خپلو خدایانو په نوم به

طلبها شيء وقال ابن المسيب قال أبو هريرة قال رسول الله صلى الله عليه وسلم رأيت عمرو بن عامر الخزاعي يجر قصبه في النار وكان أول من سيب السوائب

نے پریخودل په هغه به څه بو جهـ نه باره وو او ابوهریره وئیلی دی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ما عمرو بن عامر خزاعی لره اولیدهٔ هغهٔ خپلے کُلمے په جهنم کښں رابنکلے او د ټولو نه مخکښں سائبه دهٔ راویستے ده[1].

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم صنفان من أهل النار لم أرهما قوم معهم سياط كأذناب البقر يضربون بها الناس ونساء كاسيات عاريات مميلات مائلات رءوسهن كأسنمة البخت المائلة لا يدخلن الجنة ولا يجدن ريحها وإن ريحها ليوجد من مسيرة كذا وكذا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دوه قسمونه دی د دوزخیانو چه دنه ما نهٔ دی لیدلی (یعنی په دنیا کښں اوس هغه نهٔ دی پیدا شوی) یو خو هغه خلق چه د هغوی سره کوړے دی د غوایانو د لکو پشان او خلق په هغے سره وهی (په ظلم سره) او یو هغه ښځے دی چه هغه د کپړو باوجود لغړے وی (یا د الله تعالی په هغوی باندے احسان دے خو هغه شکر نهٔ ادا کوی) خاوند لره د نیغے لارے نه خطا کونکے او پخپله خطا شوے (یا په نازو ادا تلونکی خپلو اوګو لره راکوزے کړے) د هغوی سرونه لکه بُختی اوښانو کوبونه دی (چه په څټ ئے وښتهٔ را غونډ کړی وی او کپړه ئے پرے لګولی وی) چه یو طرف کږے شوے هغه به جنت ته نهٔ ځی بلکه د جنت خوشبوئی به هم نهٔ مومی حالانکه د جنت خوشبوئی ډیره د لرے لرے پورے رسی (داسے ښځے به کافرے وی کچرے دا خبرے حلالے اوګنړی او کوی ئے ورنه مراد دا دے چه په اوله مرتبه کښں به ورته جنت نهٔ نصیب کیږی)

عن أبي هريرة يقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يوشك إن طالت بك مدة أن ترى قوما في أيديهم مثل أذناب البقر يغدون في غضب الله ويروحون في سخط الله

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نزدے ده کچرے ته د ډیر وخته پورے ژوندے پاتے شوے نو او به وینے داسے خلقو لره چه د هغوی په لاسونو کښں به دغوئی د لکئ پشان وی (یعنی کوړے) او سحر کوی به د الله په غصه کښں او ماښام کوی به د الله په قهر کښں.

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه چه دوزخ پیدا شوے دے او ځنے کافر د مرګ نه وروستو سره هلته لیږلے شی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنْ طَالَتْ بِكَ مُدَّةٌ أَوْشَكْتَ أَنْ تَرَى قَوْمًا يَغْدُونَ فِي سَخَطِ اللهِ وَيَرُوحُونَ فِي لَعْنَتِهِ فِي أَيْدِيهِمْ مِثْلُ أَذْنَابِ الْبَقَرِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه حضرتﷺ به فرمائیل که چرے ستا عمر اوږد شو نو اوبه وینے داسے قوم چه سحر کوی به د الله په غصه کښې او مابنام کوی د الله په لعنت کښې. د هغوی په لاسونو کښې به وی (کوړے) د غوئی د لکئ پشان

بَابُ فَنَاءِ الدُّنْيَا وَبَيَانِ الْحَشْرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

باب : د دنیا د فنا کیدو او په قیامت کښې د جمع کیدو بیان

عَنْ مُسْتَوْرِدٍ أَخِي بَنِي فِهْرٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللهِ مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ هَذِهِ وَأَشَارَ يَحْيَى بِالسَّبَّابَةِ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَ تَرْجِعُ وَفِي حَدِيثِهِمْ جَمِيعًا غَيْرَ يَحْيَى سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ذَلِكَ وَفِي حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ أَخِي بَنِي فِهْرٍ وَفِي حَدِيثِهِ أَيْضًا قَالَ وَأَشَارَ إِسْمَعِيلُ بِالْإِبْهَامِ

د مستور بن شداد نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی قسم په خدائے چه دنیا د آخرت په مخکښې داسے ده لکه چه څوك ستاسو نه دا ګوته ډوبه کړی. او یحیٰی اشاره اوکړه د کلمے په ګوته سره په دریاب کښې بیا اوګوری چه څومره اوبۀ ددۀ په ګوته پورے د دریاب نه راوختے (نو څومره اوبۀ چه په ګوته پورے نختلی دی دغه مثال ددنیا د ژوند دے او دغه دریاب آخرت دے دا نسبت دے دنیا لره په آخرت سره او چونکه دنیا فانی ده او آخرت همیشه باقی دے په دے واسطه ددے نه هم کم دے)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ النِّسَاءُ وَالرِّجَالُ جَمِيعًا يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ الْأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ أَنْ يَنْظُرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ

د مؤمنانو د مور حضرت عاشے صدیقےؓ نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. د قیامت په ورځ به خلق راغونډ کړلے شی خپے ابله خپے لغړ بدن بے ختنے شوی (یعنی ناسنت شوی) ما عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ ښځے او نر به یو ځائے وی نو هغه خو به یو بل ته ګوری. حضرتﷺ اوفرمائیل اے عائشے د هغه ځائے مصیبت به دومره سخت وی چه یو به بل ته وینی (په خپل خپل فکر کښې به وی)

عَنْ حَاتِمِ بْنِ أَبِي صَغِيرَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِهِ غُرْلًا

د حاتم بن ابی صغیره نه په دے اسناد سره روایت دے او په دے حدیث کښې د غُرْلًا لفظ نشته دے

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ وَهُوَ يَقُولُ إِنَّكُمْ مُلَاقُو اللهِ مُشَاةً حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا وَلَمْ يَذْكُرْ زُهَيْرٌ فِي حَدِيثِهِ يَخْطُبُ

د ابن عباسؓ نه روایت دے هغوی د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو په خطبه کښې تاسو به د الله سره میدان کښې خپے ابله خپے بربنډ ناسنته لکه څنګه چه پیدا شوی وئ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيبًا بِمَوْعِظَةٍ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ تُحْشَرُونَ إِلَى اللهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ أَلَا وَإِنَّ أَوَّلَ الْخَلَائِقِ يُكْسٰى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَلَا وَإِنَّهُ سَيُجَاءُ بِرِجَالٍ مِنْ أُمَّتِي فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أَصْحَابِي فَيُقَالُ إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ قَالَ فَيُقَالُ لِي إِنَّهُمْ لَمْ

د عبد الله بن عباسؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ خطبے لوستلو ته په مونږ کښې اودریدو د وعظ دپاره (ددے نه معلومه شوه چه وعظ په ولاړے کول صحیح دی) او اوئے فرمائیل اے خلقو تاسو به د الله په طرف راجمع کولے شئ خپے ابله خپے ناسُنته لکه څنګه چه مونږه پیدا کړی یئ په اول ځل داسے به مو دوباره بیا پیدا کړو دا وعده ده زمونږه بیشکه مونږ دی لره کونکی یو خبر دار شئ د هر چا نه مخکښې به ابراهیم ته د قیامت په ورځ کپړے اغوستولے کیږی او خبردار شئ چه ځما د اُمت ځهٔ خلق به راوستے شی پس هغه به ګس طرفته اودرولے شی (د کافرانو په طرف) زهٔ به عرض اوکړم اے ځما ربه دا خو ځما صحابه دی په جواب کښې به اوونیلے شی ته نهٔ ئے خبر چه دوی ستا نه پس کومے لارے اختیار کړے دی زهٔ به دغه اووایم کوم چه نیک بنده (حضرت عیسیٰ علیه السلام) وئیلی دی زهٔ خو په دے خلقو د هغه وخت پورے ګواه وم د کومے پورے چه زهٔ په دوی کښې وم او هر کله چه تا زهٔ اوچت کړم نو بیا ته په هغوی نګهبان ئے (او ماته د هغوی ځهٔ علم پتے نهٔ شو) او تهٔ په هر څیز باندے ګواه ئے (یعنی ستا علم هر ځائے دے) کچرے تهٔ دوی په عذاب کړے نو ستا بندیګان دی او کچرے تهٔ ئے اوبخښے

يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ وَفِي حَدِيثِ وَكِيعٍ وَمُعَاذٍ فَيُقَالُ إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ

نو ته يې ےغالب نے حکمت والا بيا به ما ته اونيلے شي چه دا خلق مرتد شوي وو (يعني د اسلام نه واپس شوي وو) هر کله چه ته هغوی نه جدا شوے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى ثَلَاثِ طَرَائِقَ رَاغِبِينَ رَاهِبِينَ وَاثْنَانِ عَلَى بَعِيرٍ وَثَلَاثَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَأَرْبَعَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَعَشَرَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَتَحْشُرُ بَقِيَّتَهُمُ النَّارُ تَبِيتُ مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا وَتَقِيلُ مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا وَتُصْبِحُ مَعَهُمْ حَيْثُ أَصْبَحُوا وَتُمْسِي مَعَهُمْ حَيْثُ أَمْسَوْا

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی خلق به په درے تولګو کښ جمع کولے شي (دا هغه حشر دے چه د قيامت نه مخکښ په دنيا کښ به وي او دا د تولو نخښو نه پس نخښه ده. خنے به خوشحاله وي او خنے به يريږی دوه به په يو اوښ باندے وی دری به په يو اوښ باندے وی څلور به په يو اوښ باندے وی لس به په يو اوښ باندے وی. او باقی خلقو لره به اُور جمع کوی هر کله چه هغه د شپے اودريږی نو اُور به هم اودريږی. دغه شان هر کله چه د شپے اوده کيږی بيا به هم اُور اودريږی او چرته چه دوی سحر رسی هلته به اُور هم سحر کوی. هر کله چه هغه مابنام رسی نو اُور به هم هلته مابنام کوی. (غرض دا چه تول خلق به په شړلو شړلو د شام ملك ته اُور سوی)

بَابٌ فِي صِفَةِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

باب . د قيامت د ورځے بيان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ قَالَ يَقُومُ أَحَدُهُمْ فِي رَشْحِهِ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ الْمُثَنَّى قَالَ يَقُومُ النَّاسُ لَمْ يَذْكُرْ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی دد ے آيت په تفسير کښ په هغه ورځ چه خلق اودريږی د پرورد ګار عالم په مخکښ خنے خلق به په خپلو خولو کښ ډوب ولاړ وی چه هغه به د دواړو غوږونو د نيمے پورے وی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ عُبَيْدِ اللهِ عَنْ نَافِعٍ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ وَصَالِحٍ حَتَّى يَغِيبَ أَحَدُهُمْ فِي رَشْحِهِ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ

ابن عمر د رسول الله ﷺ نه دغسے حديث روايت کړو څنګه چه عبيد الله د نافع نه روايت کړو. مګر د موسیٰ بن عقبه او د صالح په حديث کښ دی چه تر دے پورے چه خنے بنيادم به په خپله خوله کښ د غوږونو د نيمے پورې ډوب روان وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابوهريرة نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی خوله به د

وسلم قال إن العرق يوم القيامة ليذهب في الأرض سبعين باعًا وإنه ليبلغ إلى أفواه الناس أو إلى آذانهم يشك ثور أيهما قال

قیامت په ورځ اویا باع په زمکه کښې روانه وي او د بعضې بنیادمو به د خولې یا د غوږونو پورې وي شك دے په دے کښې ثور ته (چه دد ے حدیث راوی دے)

عن المقداد بن الأسود قال سمعت رسول الله ﷺ يقول تدنى الشمس يوم القيامة من الخلق حتى تكون منهم كمقدار ميل قال سليم بن عامر فوالله ما أدري ما يعني بالميل أمسافة الأرض أم الميل الذي تكتحل به العين قال فيكون الناس على قدر أعمالهم في العرق فمنهم من يكون إلى كعبيه ومنهم من يكون إلى ركبتيه ومنهم من يكون إلى حقويه ومنهم من يلجمه العرق إلجامًا قال وأشار رسول الله ﷺ بيده إلى فيه

د مقداد بن اسود نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. د قیامت په ورځ به نمر د یو میل په مقدار رانژدے کړے شی. سلیم بن عامر وائی په الله قسم دے نۀ پوهیږم چه د میل نه څۀ مراد دے دا میل د زمکے چه د کوس برابر وی یا د میل نه مراد د رنجو سلائی دے نو خلق به د خپلو خپلو عملونو موافق په خولو کښې ډوب وی څوك د ګټو پورے څوك د زنګونانو پورے او څوك به د نامۀ پورے او چا ته به د خولے واګے و. او اشاره اوکړه رسول الله ﷺ پخپل لاس سره د خپلے خُلے مبارکے په طرف (یعنی د خُلے پورے به پری خوله وی)[1]

بَابُ الصِّفَاتِ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَأَهْلُ النَّارِ

باب: په دنیا کښې د جنتی خلقو او د دوزخی خلقو پیژندل

عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ فِي خُطْبَتِهِ أَلَا إِنَّ رَبِّي أَمَرَنِي

د عیاض بن حمار مجاشعی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ په خطبه کښې اوفرمائیل خبردار شئ ځما رب ما ته حکم اوکړو چه اوښایم تاسو ته هغه څۀ چه تاسو ته معلوم نۀ دی د هغه خبرونه چه الله

[1] خنے خلق په دے حدیث کښې دا اشکال کوی چه نمر د زمکے نه څو کروړه میله لرے دے ددے باوجود د هغۀ دومره ګرمی ده. پس کچرے په یو میل باندے شی نو د هغے د شغلو نه به چه په هغے کښې په سوو نومن ګټے الوزی په یو دم کښې هر څیز اوسوزوی ایره به شی: هغے جواب داد ے چه دا د آخرت بیان دے او د هغه ځائے اجسام به په بله طریقه وی. نو جائز ده چه په هغوی کښې دومره ګرمی د برداشت کولو طاقت وی. لکه عطارد چه هغه نمر ته دومره نژدے ده چه د زمکے اوسیدونکی یو لمحه په هغے نۀ شی پاتے کیدے ددے باوجود کچرے په عطارد باندے د الله تعالی نور مخلوق وی نو هغه به په فراغت سره اوسیږی. او دا هم جائز د: چه په افتاب کښې په دغه ورځ دومره ګرمی نۀ وی.

أَنْ أُعَلِّمَكُمْ مَا جَهِلْتُمْ مِمَّا عَلَّمَنِي يَوْمِي هٰذَا كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حَلَالٌ وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ لَهُمْ وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا لَمْ أُنْزِلْ بِهِ سُلْطَانًا وَإِنَّ اللهَ نَظَرَ إِلَى اهلِ الأَرْضِ فَمَقَتَهُمْ عَرَبَهُمْ وَعَجَمَهُمْ إِلَّا بَقَايَا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَقَالَ إِنَّمَا بَعَثْتُكَ لِأَبْتَلِيَكَ وَأَبْتَلِيَ بِكَ وَأَنْزَلْتُ عَلَيْكَ كِتَابًا لَا يَغْسِلُهُ الْمَاءُ تَقْرَؤُهُ نَائِمًا وَيَقْظَانَ وَإِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أُحَرِّقَ قُرَيْشًا فَقُلْتُ رَبِّ إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً قَالَ اسْتَخْرِجْهُمْ كَمَا اسْتَخْرَجُوكَ وَاغْزُهُمْ نُغْزِكَ وَأَنْفِقْ فَسَنُنْفِقَ عَلَيْكَ وَابْعَثْ جَيْشًا نَبْعَثْ خَمْسَةً مِثْلَهُ وَقَاتِلْ بِمَنْ أَطَاعَكَ مَنْ عَصَاكَ قَالَ وَأَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ ذُو سُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ وَرَجُلٌ رَحِيمٌ رَقِيقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِي قُرْبَى وَمُسْلِمٍ وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُو عِيَالٍ قَالَ وَأَهْلُ النَّارِ خَمْسَةٌ الضَّعِيفُ الَّذِي لَا زَبْرَ لَهُ الَّذِينَ هُمْ

تعالی نن ورځ ما ته ښودلے دی کوم مال چه خپلو بندګانو له ورکوم هغه حلال دی اګر چه خلقو هغه په خان حرام کړی وی لکه سائبه لو وصیله او بحیره لو حام وغیره (چه هغه مشرکانو په خان حرام کړی وو) او ما خپلو بندیګانو لره مسلمانان جوړ کړی دی (یا دګناهونو نه پاك یا په استقامت باندے او هدایت مے ورته کړے په قابلیت باندے او ځنے وائی چه مراد هغه وعده ده چه د دنیا د راتلو نه مخکښ اخستے شوے وه (اَلَستُ بِرَبِّکُم قَالُوا بَلٰی) بیا هغوی ته شیطان راغے او د هغوی د دین نه ئی هغوی واړول (یا د هغوی د دین نه منع کړل) او کوم څیزونه چه ما د هغوی دپاره حلال کړی وو هغه ئے پرے حرام کړل او هغوی ته ئے حکم اوکړو څما سره د شرك کولو چه د هغے ما څهٔ دلیل نهٔ دے رالیږلے بیشکه الله تعالی زمکے والا او لیدل بیائے هغه تول بد اوګڼل کهٔ د عربو بیائے هغه تول بد اوګڼل کهٔ د عربو وی یا د عجمو (عجم د عربو نه علاوه نورو ملکونو ته وائی) سوا د هغه څو خلقو نه چه د اهل کتابو نه باقی پاتے وو.) په نیغه لار باندے یعنی د حضرت عیسیٰ د اُمت خپل چه په توحید قائل وو او د تثلیث نه منکر وو) او الله تعالی فرمائی چه ما تهٔ د دے دپاره لیږلے ئے چه پتا سره ازموده اوکړم په هغه قوم چه تهٔ مے ورته لیږلے ئے (چه څوك د دوی نه ایمان راوړی او څوك کافر او منافق پاتے کیږی) او ما پتا باندے کتاب نازل کړے دے چه هغه په اوبو سره نهٔ شے وینځلے (ولے چه هغه صرف په کاغذ نهٔ دے لیکلے بلکه په سینو باندے نقش شوے دے) نو دے لره لوله په خوب او ویښه سره او الله تعالی ما ته د قریشو د خلقو د سیزلو حکم اوکړو (یعنی د هغوی د قتلولو) ما عرض اوکړو چه اے څما ربه هغوی خو به څماسر د ډوډئ پشان تکړے تکړے او شوکوی الله تعالی اوفرمائیل دوی لره اوباسه

فِيكُمْ تَبَعًا لَا يَبْتَغُونَ أَهْلًا وَلَا مَالًا وَالْخَائِنُ الَّذِي لَا يَخْفَى لَهُ طَمَعٌ وَإِنْ دَقَّ إِلَّا خَانَهُ وَرَجُلٌ لَا يُصْبِحُ وَلَا يُمْسِي إِلَّا وَهُوَ يُخَادِعُكَ عَنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ وَذَكَرَ الْبُخْلَ أَوِ الْكَذِبَ وَالشِّنْظِيرُ الْفَحَّاشُ وَلَمْ يَذْكُرْ أَبُو غَسَّانَ فِي حَدِيثِهِ وَأَنْفِقْ فَسَنُنْفِقَ عَلَيْكَ

لکه څنګه چه نے ویستلے نے او جهاد ورسره او کړه مونږ به ستا مدد کوؤ او خرچ کوه نو پتا باندے به خرڅ اوکړے شی (یعنی ته د الله په لاره کښې خرڅ کوه الله به تاله درکوی) او ته لښکر اولیږه نو مونږ به دغسے پنځهٔ لښکرے (د فرښتو) اولیږو. او خپل فرمانبردار واخله او د نافرمانو سره اوجنګیږه. او جنت والا درے کسان دی یو خو هغه چه سره د حکومت انصاف کوی رښتونے دے د نیکو کارونو توفیق ورکړے شوے دے. دویم هغه چه مهربانه او نرم دله وی په خپلوانو کښې او مسلمانانو باندے. دریم هغه چه پاك دامن دے او سوال نهٔ کوی او بال بچ والا وی. او پنځهٔ سړی دوزخیان دی یو خو هغه کمزورے چه هغه تمیز نهٔ کوی (چه د بدے خبرے نه بچ شی) کوم چه پتاسو کښې تابعدار دی نهٔ هغه کور غواړی نهٔ مال (یعنی محض په بے فکری سره چه په حلالو او حرامو غرض نهٔ ساتی) دویم هغه غل چه هر کله ده ته یو شے ورښکاره شی او هغه ئے پټ کړی. دریم هغه سړے څوك چه پټ کړی. دریم هغه سړے څوك چه سحر او ماښام تا ته فریب کوی ستا د کور والاو ستاسو د مال په مقدمه کښې او بیان اوکړو حضرت ﷺ د بخیل دروغژن (چه دا هم دوزخی دے) او د شنظیر یعنی کنځل کونکے فحش ویونکے.

عَنْ قَتَادَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِهِ كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حَلَالٌ

د قتادهؓ په دے اسناد سره روایت دے مګر په دے حدیث کښې دا ذکر نهٔ دی. کوم مال چه ما خپل بنده ته ورکړو، حلال دے

عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ ذَاتَ يَوْمٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَقَالَ فِي آخِرِهِ قَالَ يَحْيَى قَالَ شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ مُطَرِّفًا فِي

د عیاض بن حمار نه روایت دے چه یو ورځ رسول الله ﷺ خطبه اوفرمائیله. مخکښې د پورتنی پشان حدیث ئے بیان کړو او د دے په آخر کښې ئے اووے چه یحیٰی اووئیل چه شعبه د قتاده نه روایت کونکے وئیل ئے چه هغهٔ وئیلی دی ما مطرف لره او ... دلی دی په

هٰذَا الْحَدِيثِ

د ے حدیث کښې.

عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ أَخِي بَنِي مُجَاشِعٍ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ خَطِيبًا فَقَالَ-إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ هِشَامٍ عَنْ قَتَادَةَ وَزَادَ فِيهِ وَإِنَّ اللهَ أَوْحَى إِلَيَّ أَنْ تَوَاضَعُوا حَتَّى لَا يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ وَلَا يَبْغِ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ وَقَالَ فِي حَدِيثِهِ وَهُمْ فِيكُمْ تَبَعًا لَا يَبْغُونَ أَهْلًا وَلَا مَالًا فَقُلْتُ فَيَكُونُ ذٰلِكَ يَا أَبَا عَبْدِ اللهِ قَالَ نَعَمْ وَاللهِ لَقَدْ أَدْرَكْتُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَرْعَى عَلَى الْحَيِّ مَا بِهِ إِلَّا وَلِيدَتُهُمْ يَطَؤُهَا

د عیاض بن حمار مجاشعی نه روایت دے چه یوه ورځ رسول الله ﷺ د وعظ د فرمائیلو دپاره اودریدهٔ اونے فرمائیل چه الله تعالی ما ته حکم اوکړو. راوی مخکښې پوره حدیث بیان کړو ځنګه چه هشام د قتاده نه حدیث روایت کړو او په دے کښې دا زیاته ده چه الله تعالی ما ته وحی اوکړه چه عاجزی کوه داسے چه ځوك فخر اونهٔ کړی په بل باندے نهٔ ځوك زیاتے وکړی په بل باندے. او په دے روایت کښې دادی چه هغه خلق په تاسو تابعدار دی نهٔ کور والا غواړی نهٔ مال. قتاده اووے اے ابو عبد الله داسے به کیږی مطرف بن عبد الله اووے (دا کنیت د ابوعبد الله دے) آو قسم په خدائے چه ما دوی لره د جاهلیت په زمانه کښې موندلی دی. یو سړی د یوے قبیلے بزے څرولے. هلته به ځوك نهٔ میلاویدل دهٔ ته مګر د کور والاؤ وینځه، د هغے سره به ئے جماع کوله[1]

بَابُ عَرْضِ مَقْعَدِ عَلَى الْمَيِّتِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ

باب: مړی ته د هغهٔ د اوسیدو ځائے ښودل او د قبر د عذاب بیان.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ يُقَالُ هٰذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه ځوك مړ شی. نو سحر او مابنام ورته د خپلو اوسیدو ځائے مخے ته راوستے شی. کهٔ د جنتیانو نه وی نو د جنتیانو نه او کهٔ د دوزخیانو نهٔ وی نو د دوزخیانو نه بیا ورته اونیلے شی چه دا ستا ځائے دے رااوبه لیږی الله تعالی تالره دد ے په طرف د قیامت په ورځ باندے.

[1] نووی وائی چه مراد د آخرے زمانے جاهلیت دے ځکه چه مطرف کم عمره وو او هغه د بلوغ او عقل په حالت کښې د جاهلیت زمانه نهٔ وه لیدلے

عن ابن عمر قال قال النبي صلى الله عليه وسلم إذا مات الرجل عرض عليه مقعده بالغداة والعشي إن كان من أهل الجنة فالجنة وإن كان من أهل النار فالنار قال ثم يقال هذا مقعدك الذي تبعث إليه يوم القيامة

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه بنده مړ شی نو هغهٔ ته سحر مابنام خپل د اوسیدو ځائے مخے ته کولے شی. کچرے هغه جنتی وی نو جنت ورته اوښودلے شی او کهٔ دوزخی وی نو دوزخ ورته اوښودلے شی. بیا ورته اوونیلے شی چه دا ستا هغه ځائے دے چرته چه به ته د قیامت په ورځ ورلیږلے شے.

عن أبي سعيد الخدري عن زيد بن ثابت قال أبو سعيد ولم أشهده من النبي صلى الله عليه وسلم ولكن حدثنيه زيد بن ثابت قال بينما النبي صلى الله عليه وسلم في حائط لبني النجار على بغلة له ونحن معه إذ حادت به فكادت تلقيه وإذا أقبر ستة أو خمسة أو أربعة قال كذا كان يقول الجريري فقال من يعرف أصحاب هذه الأقبر فقال رجل أنا قال فمتى مات هؤلاء قال ماتوا في الإشراك فقال إن هذه الأمة تبتلى في قبورها فلولا أن لا تدافنوا لدعوت الله أن يسمعكم من عذاب القبر الذي أسمع منه ثم أقبل علينا بوجهه فقال تعوذوا بالله من عذاب النار قالوا نعوذ بالله من عذاب النار فقال تعوذوا بالله من عذاب القبر قالوا نعوذ بالله من عذاب القبر قال تعوذوا بالله من الفتن ما ظهر منها وما بطن قالوا نعوذ بالله من الفتن

د ابوسعید خدری نه روایت دے وائی چه ما دا حدیث د رسول الله ﷺ نه نهٔ بلکه د زید بن ثابت نه اوریدلے دے. هغوی ونیلی دی چه رسول الله ﷺ د بنی نجار په باغ کښ په یو قچر باندے روان وو. مونږ ورسره وو چه په دے کښ هغه قچر لتے اووهلے او نږدے وه چه حضرت ﷺ ئے غورځولے وے هلته شپږ یا پنځهٔ قبرونه وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل چا ته پته شته چه دا قبرونه د چا چا دی یو سړی اووے ما ته پته ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل کله مړهٔ دی؟ هغه اووے د شرک په زمانه کښ. حضرت ﷺ اوفرمائیل د دے اُمت به امتحان وی په قبرونو کښ. پس کچرے تاسو دفن کول نهٔ پریخودے نو ما به د الله نه دعا غوښتلے وه چه تاسو ته ئے د قبر عذاب اوروَلے لکه څنګه چه ئے زهٔ اورمه دد ے نه پس حضرت ﷺ زمونږ په طرف متوجه شو او ونے فرمائیل پناه غواړئ په الله سره د جهنم د عذاب نه. خلقو اووے پناه غواړو مونږ په الله سره د جهنم د عذاب نه. بیائے اوفرمائیل. پناه اوغواړئ په الله سره د قبر د عذاب نه خلقو اووے پناه غواړو مونږ په الله سره د قبر د عذاب نه حضرت ﷺ اوفرمائیل پناه اوغواړئ په الله سره د پټو او ښکاره فتنو نه خلقو اووے پناه غواړو مونږ په الله سره د پټو او ښکاره

مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ قَالَ تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ قَالُوا نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ	فتنونه حضرت ﷺ اوفرمائیل پناه اوغواړئ په الله سره د دجال د فتنے نه خلقو اووے پناه غواړو مونږ په الله سره د دجال د فتنے نه[1]

[1] نووی وائی د اهل سنتو مذهب دادے چه عذاب قبر حق دے. او ددے په کتاب او سنت کښې ډیر دلائل دی. الله تعالی فرمائیلی دی النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا او احادیث صحیحه متعدده په دے باب کښې راغلی دی. او دا عذاب د عقل خلاف نه دے ځکه چه ممکن دی د بدن په یو جزو کښې د ژوندون پیدا کیدل. او هر کله چه د عقل خلاف نه وی او د شرع نه د هغے ثبوت وی نو قبلول ئے اعتقاداً واجب دی. او امام مسلمؒ په دے مقام کښې ډیر حدیثونه بیان کړی دی. چه د هغے نه د قبر عذاب او رسول الله ﷺ لره د هغے اوریدل او مړو لره د خپلو دفن کونکو د پیزار آواز اوریدل وغیره ډیرے خبرے ثابتیږی. او په کتاب الصلوٰة او کتاب الجنائز کښې ددے متعلق ډیرے خبرے تیرے شوی دی او مقصود دادے چه اهل سنت د قبر عذاب لره ثابتوی. او خوارج او معتزله او ځنے مرجیه ددے نه انکار کوی. او د اهل سنتو په نزد قبر عذاب په بدن باندے وی د هغے په یو جزو باندے روستو د اعادے د روح نه. او محمد بن جریر او عبدالله بن کرام او یو ټولی په دے کښې خلاف کړے دے. هغوی وائی چه د روح اعاده شرط نه ده. زمونږ صحابه وائی چه دا غلطه ده. ځکه چه تکلیف او احساس ژوندی ته کیږی. او د مړی د اجزاؤ تفرق یا د ځناورو خوړل یا د مهی تیرول دے لره مانع نه دی ځکه چه څنګه د حشر په ورځ الله تعالی د بدن اعاده کوی او په دے باندے قادر دے. دغه شان ممکنه ده چه د بدن په اجزاؤ کښې په یو جزو کښې د ژوند اعاده اوکړی. اګر که هغه ځناور یا مهیانو خوړلے وی. اوس که څوك دا اعتراض کوی چه مونږ خو مړی په قبر کښې په داسے حال کښې وینو لکه څنګه ایخودے شوے وو. بیا د هغه نه سوال جواب او کینول او د اوسپنے په ګرزونو د هل څنګه کیږی د هغے خو څو نخښے نه معلومیږی. د هغے جواب دادے چه دا د عادت خلاف نه دی بلکه نظیر ئے موجود دے. ځوك چه اوده شی او هغه ته په خوب کښې خوشحالی او یا تکلیف وی خو ویخو کسانو ته څه نه معلومیږی دغه شان اوده په خپل زړه کښې غم او خوند محسوسه وی او څوك چه ورسره ناست وی هغه ترے خبر نه وی او جبرائیل علیه السلام به د رسول الله ﷺ خواله راتلو او حضرت ﷺ ته به ئے وحی اوروله خو نورو ته به خبر نه وو. اوس پاتے شوه د مړی اوچتول هغه کیدے شی چه خاص وی د هغه سړی سره چه هغه دفن کړے شوے وی. او د هغه دپاره نه وی کوم چه ځناورو خوړلے وی. دغه شان د ګرزونو وهل هم ممکن دی په دے شان چه قبر وسیع کړے شی.

د اردو کتاب مترجم وائی چه قبر رومبے منزل دے د آخرت د منزلونو نه او د آخرت خبرے د دنیا د خبرو سره صرف په نوم او صورت کښې میلاویږی. لیکن د هغے حقیقت او ماهیت بل شان دے. پس د آخرت وهل او د آخرت راپاڅول او د آخرت سوال دا ټول د مړی نه په دے شان کیدے شی چه دنیا والاؤ ته مطلق د هغے خبر نه وی. او څنګه چه په دنیا کښې د قبر د عذاب نظیر موجود دے یعنی د خوب تکلیف سختی او خوشحالی نو د هغے نه د انکار څه وجه نشته. او اصل داده چه کوم وخت د انسان روح د هغه د جسم نه جدا جدا کیږی نو جسمانی کیفیت په دغه روح باندے بالکل طاری وی او روح د خپلو ټولو حرکاتو سکناتو تصور او احساس په جسمانی طور سره کوی. پس د هغه کینول او د هغه سوال او د هغه عذاب روح ته داسے معلومیږی لکه چه څنګه په دنیا کښې په بدن باندے دا خبرے کیږی. او په دے صورت کښې چه څوك ځناور او خوری یائے مهے تیر کړی. په هغه باندے هم په عذابیدو کښې څه اشکال نشته بهر حال هر کله چه د صحیح حدیث نه دا امر ثابت دے نو اګر که زمونږ په عقل کښې په ښه طور سره نه راځی. خو مونږ له تسلیمول پکار دی. ولے چه د آخرت خبرے په ښه طور سره به هله په پوهه کښې راځی هر کله چه ددے دنیا نه جدائی راشی او د آخرت سره تعلق پیدا شی. او ددے وجے نه چه کوم خلق په دنیا کښې د آخرت سره تعلق لری په هغوی باندے د هغه ځائے خبرے په ښه شان له ظاهریږی لکه انبیاء علیهم السلام لو صالحین لو اولیاء الله علیهم السلام.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلَا أَنْ لَا تَدَافَنُوا لَدَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ

د انس ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے تاسو دفن کول نه پرېخودے (د قبر د عذاب د یرے نه) نو ما به خامخا دُعا کړے وے چه الله تعالی تاسو ته د قبر عذاب اورولے وے.

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ فَسَمِعَ صَوْتًا فَقَالَ يَهُوْدُ تُعَذَّبُ فِي قُبُوْرِهَا

د ابوایوب ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د نمر د پرېوتو نه پس رااووتو او یو آواز ئے واورېدو نو اوئے فرمائیل یهودیان عذابیږی په خپلو قبرونو کښ.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ قَالَ يَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِهِ فَيَقُوْلَانِ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِي هٰذَا الرَّجُلِ قَالَ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَقُوْلُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ قَالَ فَيُقَالُ لَهُ انْظُرْ إِلَى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ قَدْ أَبْدَلَكَ اللهُ بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ قَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَرَاهُمَا جَمِيعًا قَالَ قَتَادَةُ وَذُكِرَ لَنَا أَنَّهُ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا وَيُمْلَأُ عَلَيْهِ خَضِرًا إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ

د انس بن مالك ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بنده چه کله چه خپل قبر کښ کېښودے شی او د هغهٔ نه ملګری خلق واپس شی نو هغه د هغوی د پېزار آواز اوری. بیا دوه فرښتے د هغهٔ خواله راشی او په قبر کښ ئے کېنوی او ورته اووائی تا دد ے سړی په باب کښ څهٔ وئیل (یعنی د محمد ﷺ په باب کښ او د حضرت ﷺ نوم په تعظیم سره نهٔ اخلی په دے وجه چه هغه پوهه نهٔ شی) مؤمن به وائی چه زهٔ ګواهی ورکوم چه هغوی د الله تعالی بنده او د هغهٔ رسول دے. بیا به هغهٔ ته اووئیلے شی ته خپل د اوسیدو ځائے اوګوره په جهنم کښ الله تعالی تا له ددے په ځائے په جنت کښ د اوسیدو ځائے درکړو. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هغه خپل دواړه د اوسیدو ځایونه اووینی. قتاده وائی انس ؓ مونږ ته ذکر کړے دے چه د هغهٔ قبر اویا لاسونه پلن شی او د شنو بوټو نه ډك شی (یعنی باغیچه ترے جوړه شی) د قیامته پورے[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

د انس بن مالك ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی

---

[1] په پوره حدیث او کتابونو کښ دی د مؤمن حال خو بیان شو. او کافر یا منافق به دا وائی زهٔ نهٔ پېژنم چه دا سړے څوك دے؟ او ما به هم دغه وئیل څهٔ چه نورو خلقو وئیل. بیا فرښته هغه د اوسپنے په ګرزونو وهی او د قیامته پورے به ورته دغه عذاب ورکیدے شی. او په یو روایت کښ دی چه دوه فرښتے راځی چه د یوے نوم منکر او د بلے نوم نکیر دے. تپوس به کوی چه ستا رب څوك دے؟ ستا نبی څوك دے؟ ستا دین څهٔ دے؟ پس مؤمن برابر جواب ورکوی او وائی خما رب الله دے. او خما نبی محمد ﷺ دے او خما دین اسلام دے

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَيِّتَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ خَفْقَ نِعَالِهِمْ إِذَا انْصَرَفُوا

مړے چه هر کله په قبر کښې کېښودے شي نو هغه خامخا د خپلو خلقو د پېزار آواز اوري هر کله چه هغوی واپس شي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ شَيْبَانَ عَنْ قَتَادَةَ

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي بنده چه كله په قبر كښې كيخودے شي او د هغه ملګري واپس شي (راوي) مخكښې هغسې حديث بيان كړو څنګه چه شيبان د قتاده نه حديث بيان كړو.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ قَالَ نَزَلَتْ فِي عَذَابِ الْقَبْرِ فَيُقَالُ لَهُ مَنْ رَبُّكَ فَيَقُولُ رَبِّيَ اللهُ وَنَبِيِّي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذٰلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ

د براء بن عازب نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دا آيت (ترجمه: الله تعالیٰ قائم کړي دي هغه کسانو لره چه ايمان ئے راوړے دے په قول كلك باندے په دنيا او آخرت كښې) د قبر د عذاب په باره كښې نازل شوے دے. د مړي نه تپوس كولے شي چه ستا رب څوك دے؟ مړے وائي خما رب الله دے او خما نبي حضرت محمد ﷺ دے. دغه مراد دے د الله دے قول نه چه محكم كړي دي الله تعالی مؤمنان په خبره كلكه باندے په دنيا او په آخرت كښې.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ قَالَ نَزَلَتْ فِي عَذَابِ الْقَبْرِ

د براء بن عازب نه روايت دے دا آيت (ترجمه: الله تعالی كلك ساتي ايمان والا لره د دنيا په ژوند كښې او په آخرت كښې) د عذاب قبر په باره كښې نازل شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ إِذَا خَرَجَتْ رُوحُ الْمُؤْمِنِ تَلَقَّاهَا مَلَكَانِ يُصْعِدَانِهَا قَالَ حَمَّادٌ فَذَكَرَ مِنْ طِيبِ رِيحِهَا وَذَكَرَ الْمِسْكَ قَالَ وَيَقُولُ أَهْلُ السَّمَاءِ رُوحٌ طَيِّبَةٌ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْأَرْضِ صَلَّى اللهُ عَلَيْكِ وَعَلَى جَسَدٍ كُنْتِ تَعْمُرِينَهُ فَيُنْطَلَقُ بِهِ إِلَى رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ يَقُولُ

د ابوهريره نه روايت دے هغوی وائي (دا د رسول الله ﷺ قول دے لكه چه مخكښې به معلوم شي) هر كله چه د ايماندار روح د هغۀ د بدن نه اوځي نو د هغۀ مخے ته دوه فرښتے راځي. او هغۀ لره آسمان ته خيژوي حماد وائي (چه ددے حديث راوي دے) چه ابوهريره د هغه روح د خوشبوئ او مشكو ذكر اوكړو او د اسمان (فرښتے) وائي څۀ پاك روح دے چه د زمكے د طرفه راغے. الله تعالی د پتا باندے او ستا په بدن باندے رحمت اوكړي چه تا آباد ساتلے دے بيائے د رب خواله يوسي

انطَلِقُوا بِهِ إِلَى آخِرِ الأَجَلِ قَالَ وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا خَرَجَتْ رُوحُهُ قَالَ حَمَّادٌ وَذَكَرَ مِنْ نَتْنِهَا وَذَكَرَ لَعْنًا وَيَقُولُ أَهْلُ السَّمَاءِ رُوحٌ خَبِيثَةٌ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الأَرْضِ قَالَ فَيُقَالُ انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى آخِرِ الأَجَلِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَرَدَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَيْطَةً كَانَتْ عَلَيْهِ عَلَى أَنْفِهِ هَكَذَا

هغه اوفرمائي دی بوځه (خپل مقام يعنی عليين ته چرته چه د مؤمنانو روحونه پاتے کيږی) د قيامته پورے (هلته ئے کيږدی) او د کافر چه هر کله روح اوځی. حماد وائی (چه دد ے حديث راوی دے) چه ابوهريرهؓ د هغے د بد بويئ او په هغے باندے د لعنت ذکر اوکړو. اسمان والا وائی چه څۀ ناپاکه روح دے چه د زمکے د طرفنه راغے بيا حکم اوشی دے بوځئ (خپل مقام يعنی سجين ته چرته چه د کافرانو روحونو پاتے کيږی) د قيامته پورے. ابوهريرهؓ وائی چه رسول اللهﷺ يوه باريکه کپړه چه د حضرتﷺ په سر وه پخپله پوزه باندے واچوله (هر کله چه د کافرانو د روح ذکر ئے اوکړو او د هغے د بدبويئ بيانول په دے شان سره.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا مَعَ عُمَرَ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَتَرَاءَيْنَا الْهِلَالَ وَكُنْتُ رَجُلًا حَدِيدَ الْبَصَرِ فَرَأَيْتُهُ وَلَيْسَ أَحَدٌ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَآهُ غَيْرِي قَالَ فَجَعَلْتُ أَقُولُ لِعُمَرَ أَمَا تَرَاهُ فَجَعَلَ لَا يَرَاهُ قَالَ يَقُولُ عُمَرُ سَأَرَاهُ وَأَنَا مُسْتَلْقٍ عَلَى فِرَاشِي ثُمَّ أَنْشَأَ يُحَدِّثُنَا عَنْ أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُرِينَا مَصَارِعَ أَهْلِ بَدْرٍ بِالأَمْسِ يَقُولُ هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا إِنْ شَاءَ اللهُ قَالَ فَقَالَ عُمَرُ فَوَالَّذِي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا أَخْطَئُوا الْحُدُودَ الَّتِي حَدَّ رَسُولُ اللهِ

د انس بن مالكؓ نه روايت دے وائی چه مونږه د مکے او مدينے په مينځ کښ د حضرت عمرؓ سره وو. نو مونږه ټولو مياشت کتل شروع کړل. ځما نظر تيز وو ما مياشت اوليده. او ځما نه علاوه هيچا او نۀ وے چه ما مياشت اُوليده. ما حضرت عمرؓ ته اووے تۀ مياشت نۀ ګورے. اوګوره دا مياشت ده. هغۀ اونۀ ليدے شوه. هغوی اووے ما ته به لږ ساعت پس ښکاره شی (هر کله چه لږه رڼړا اوکړی) او زۀ پخپله بستره باندے نيغ پروت وم. بيا هغوی مونږ ته د بدر والاؤ قصه شروع کړه. هغوی اووے چه رسول اللهﷺ مونږ ته په پرونۍ ورځ (يعنی د جنګ نه يوه ورځ مخکښ) د بدر والاؤ د غورځيدو ځائے اوښودو. حضرتﷺ اوفرمائيل کۀ الله غواړی نو په صبا ورځ به فلانے دلته غورځيږی. حضرت عمرؓ وائی په هغه الله قسم دے چا چه حضرتﷺ د رښتونی کلام سره راليږلے دے. کوم حدونه چه حضرتﷺ بيان کړی وو هغه د هغه ځائے نه اخوا ديخوا نۀ شو (يعنی هر يو کافر هم په هغه ځائے کښ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجُعِلُوا فِي بِئْرٍ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْتَهَى إِلَيْهِمْ فَقَالَ يَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ وَيَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَكُمُ اللهُ وَرَسُولُهُ حَقًّا فَإِنِّي قَدْ وَجَدْتُ مَا وَعَدَنِي اللهُ حَقًّا قَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تُكَلِّمُ أَجْسَادًا لَا أَرْوَاحَ فِيهَا قَالَ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ غَيْرَ أَنَّهُمْ لَا يَسْتَطِيعُونَ أَنْ يَرُدُّوا عَلَيَّ شَيْئًا

اووژلے شو کوم چه حضرت ﷺ بیان کړے وو، بیا هغه ټول په یو بل دپاسه کوهی ته وراوغورځولے شو . بیا رسول الله ﷺ د هغوی خواله تشریف یوړو او آواز ئے اوکړو چه فلانی د فلانی خویه اے فلانی د فلانی بچیه! الله او د هغهٔ رسول چه کومه وعده ستاسوسره کړے وه هغه تاسو اوموندہ. (او دهغے عذاب مو اولیدهٔ) او ما خو اوموندہ کومه چه الله تعالی ځما سره رښتونی وعده کړے وه (چه فتح به ستاسو وی او کافران به وژلے شی) ددے په اوریدو حضرت عمرؓ اووے یا رسول الله! تاسو د هغه بدنونو سره خبرے کوئ چه په هغے روح نشته دے (ځکه دوی اوری) حضرت ﷺ اوفرمائیل څهٔ چه زهٔ وایم نو تاسو ئے ددوی نه زیات ښهٔ نهٔ شئ اوریدے. البته دومره فرق دے چه دوی جواب نهٔ شی ورکولے[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَكَ قَتْلَى بَدْرٍ ثَلَاثًا ثُمَّ أَتَاهُمْ فَقَامَ عَلَيْهِمْ فَنَادَاهُمْ فَقَالَ يَا أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ يَا أُمَيَّةَ بْنَ خَلَفٍ يَا عُتْبَةَ بْنَ رَبِيعَةَ يَا شَيْبَةَ بْنَ رَبِيعَةَ أَلَيْسَ قَدْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا فَإِنِّي قَدْ وَجَدْتُ مَا وَعَدَنِي رَبِّي حَقًّا فَسَمِعَ

د انس بن مالكؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د بدر مقتولینو لره ددرے ورځو پورې دغه شان پریخودی وو. بیا ئے د هغوی خواله تشریف راوړو او آواز ئے ورته اوکړو چه اے ابوجهل بن هشام او اے اُمیه بن خلف او اے عتبه بن ربیعه او اے شیبه بن ربیعه آیا تاسو اوموندہ هغه چه الله ستاسو سره رښتونے وعده کړے وه. ما خو اوموندہ کومه چه الله ځما سره رښتونے وعده کړے وه. حضرت عمرؓ چه هر کله د رسول الله ﷺ دا فرمائیل واوریدو نو عرض ئے

[1] او په اوریدو کښې تاسو او هغه برابر دی. ددے حدیث نه صفا سماع موتٰی ثابتیږی عام ددے نه چه کافر وی یا مسلمان او نور احادیث هم په دے تائید کښې راغلی دی. او د ځنے محدثینو مذهب دغه دے چه مړی اوری ددے وجے نه خو پرے د سلام غورځولو حکم شوے دے. امام مازریؒ وائی ځنے خلقو ددے حدیث نه دلیل نیولے دے چه مړی اوری. بیا انکار کړے دے مازری د سماع موتٰی نه او دعوه ئے کړے ده چه دا سماع موتٰی د اهل بدر سره خاص وه (لکه چه قتاده وائی چه هغه خلق د یوے لحظے دپاره ژوندی کړی شوی وو ددے دپاره چه د حضرت ﷺ کلام واوری. او رد کړے دے ددے قاضی عیاض .او وئیلی دی چه دا سماع په هغے باندے محمول ده لکه څنګه چه دنورو حدیثونه سماع موتٰی ثابته ده. او کلام د قاضی ظاهر او مختار دے کوم لره چه د سلام کولو حدیث مقتضي دے دا کلام دی د امام نووی

عُمَرُ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ يَسْمَعُوا وَأَنَّى يُجِيبُوا وَقَدْ جَيَّفُوا قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ وَلَكِنَّهُمْ لَا يَقْدِرُونَ أَنْ يُجِيبُوا ثُمَّ أَمَرَ بِهِمْ فَسُحِبُوا فَأُلْقُوا فِي قَلِيبِ بَدْرٍ

اوکړو چه یا رسول الله! دوی څهٔ اوري او څنګه به جواب ورکړي دا خو مردار بدبویه شوي دي. حضرت ﷺ اوفرمائیل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه ځما روح دے ځهٔ چه زهٔ وایم دوی ته تاسو ئے د دوی نه زیات نهٔ شئ اوریدے. البته دومره خبره ده چه دوی جواب نهٔ شي ورکولے. بیا حضرت ﷺ حکم اوکړو او هغه ئے د بدر کوهي ته راښکودل او اوئے غورځول.

عَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ وَظَهَرَ عَلَيْهِمْ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِبِضْعَةٍ وَعِشْرِينَ رَجُلًا وَفِي حَدِيثِ رَوْحٍ بِأَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ رَجُلًا مِنْ صَنَادِيدِ قُرَيْشٍ فَأُلْقُوا فِي طَوِيٍّ مِنْ أَطْوَاءِ بَدْرٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ

د ابوطلحه رضی الله عنه نه روایت دے هر کله چه د بدر ورځ شوه. او رسول الله ﷺ په کافرو غالب شو نو حضرت ﷺ حکم اوکړو د شلو نه څهٔ زیات او د روْح په روایت کښې دي څلیرشت سړي د قریشو د سردارانو دپاره د هغوی لاشونه په یو کوهي کښې اوغورځول د بدر په کویانو کښې. مخکښې حدیث ئے پوره بیان کړو څنګه چه ثابت د انس نه حدیث بیان کړو.

بَابُ إِثْبَاتِ الْحِسَابِ

باب : دُ حساب بیان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حُوسِبَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عُذِّبَ فَقُلْتُ أَلَيْسَ قَدْ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا فَقَالَ لَيْسَ ذَاكِ الْحِسَابُ إِنَّمَا ذَاكِ الْعَرْضُ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عُذِّبَ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي د چا سره چه د قیامت په ورځ حساب اوشي هغهٔ له به عذاب وي. ما اووے الله تعالی فرمائي پس زر ده چه حساب به اوکړے شي حساب آسان او واپس به شي خپلو کورونو ته په خوشحالئ حضرت ﷺ اوفرمائیل دا حساب نهٔ دے. دا خو صرف (د هغهٔ د اعمالو) ښودل دي او د چا سره چه جهګړه وي په حساب کښې د قیامت په ورځ هغهٔ ته به عذاب وي[1]

---

[1] ولے چه د حساب د مخه خلاصے مونډل ګران دي هر ساه د الله نعمت دے او شکر پرے واجب دے. پس دومره عبادت څوک کولے شي چه یو ساه د هم د الله د یادولو نه غافله نګوی اے ربه اے مولی مونږ د حساب لائق چرته یو زمونږ خو ټول دفتر په ګناهونو تور شوے دے او ستا د فضل او کرم نه بغیر زمونږ خلاصے نشته دے

عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د ايوب نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ إِلَّا هَلَكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَيْسَ اللهُ يَقُولُ حِسَابًا يَسِيرًا قَالَ ذَاكِ الْعَرْضُ وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ هَلَكَ

د حضرت عائشے نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د چا سره چه حساب اوشو هغه به تباه كيږي. ما اووے. آيا دا الله تعالى نه دي فرمائيلي آسان حساب به كيږي. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل. دا خو صرف پيش كيدل دي. ليكن د چا سره چه په حساب كښې نوكے شوكے اوشي، هغه به برباد او تباه كيږي.

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ هَلَكَ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي يُونُسَ

د حضرت عائشے نه روايت دے رسول الله ﷺ اوفرمائيل. د چا سره چه په حساب كښې سختي اوشي هغه هلاك شو. بيائے د ابويونس پشان حديث بيان كړو.

بَابُ الْأَمْرِ بِحُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ تَعَالَى عِنْدَ الْمَوْتِ

باب: د مرګ په وخت د الله جل جلاله سره د ښۀ ګمان ساتلو حكم

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ وَفَاتِهِ بِثَلَاثٍ يَقُولُ لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ بِاللهِ الظَّنَّ

د جابر نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ نه د هغوی د وفات نه درے ورځے مخكښې دا واوريدل چه فرمائيل ئے څوك د ستاسو نه نه مري مګر د الله سره د نيك ګمان ساتلو په حالت كښې (يعنى د خاتمے په وخت د الله د رحمت نه نۀ نااُميده كيږي بلكه اُميد د ساتي د الله په فضل او كرم د خپل نجات او خلاصى)

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د اعمش نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِثَلَاثَةِ أَيَّامٍ يَقُولُ لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللهِ عَزَّ وَجَلَّ

د جابر نه روايت دے چه ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه د حضرت ﷺ د وفات نه درے ورځے مخكښې حضرت ﷺ فرمائيل په تاسو كښې چا ته د مرګ نۀ رازي مګر په هغه حالت كښې چه هغه د الله تعالى نه ښائسته ګمان لري.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَا

د جابر نه روايت دے. چه ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه حضرت ﷺ فرمائيل. هر بنده به د قيامت په ورځ په هغه حالت كښې

مَاتَ عَلَيْهِ

پاڅي په کوم چه مړ وي. (یعنې په کفر یا په ایمان خو اعتبار خاتمے لره دے او د آخري وخت د نیت دے)

عَنِ الأَعْمَشِ بِهٰذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ سَمِعْتُ

د اعمش نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے او په دے کښې د سَمِعْتُ النَّبِيَّ په ځائے عَنِ النَّبِيِّ دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا أَرَادَ اللهُ بِقَوْمٍ عَذَابًا أَصَابَ الْعَذَابُ مَنْ كَانَ فِيهِمْ ثُمَّ بُعِثُوا عَلَى أَعْمَالِهِمْ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے وائي چه ما اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه چه فرمائیلې ئې وو. هر کله چه الله تعالی په یو قوم د عذاب اراده اولري نو کوم خلق چه په هغه قوم کښې وي تولو ته عذاب رسي (یعنې ښو او بدو تولو ته) بیا به د قیامت په ورځ په خپلو خپلو عملونو باندے پاڅي. (یعنې د قیامت په ورځ به ښهٔ د بدو سره نهٔ وي)[1]

مُترجم: احقر العباد حافظ حَبِیبُ الرَّحمٰن مردان

مُصَحِّح: مولانا عبد الوافی پشاور

ناشِر: تاج کمپنی لمیٹڈ

---

[1] مطلب دا دے چه هر کله یوه فتنه یا عام یو عذاب لکه وبا یا طاعون وغیره دنیا ته راځي نو د بدو سره پکښې نیک هم مبتلا کیږي. وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً. لیکن په آخرت کښې د آخرت حشر به د هغهٔ د اعمالو موافق وي. هر یو به په خپل نیت باندے پاڅي.

كِتَابُ الْفِتَنِ وَأَشْرَاطِ السَّاعَةِ

د فتنو او د قيامت د نخښو بيان

عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَيْقَظَ مِنْ نَوْمِهِ وَهُوَ يَقُولُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ وَعَقَدَ سُفْيَانُ بِيَدِهِ عَشَرَةً قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ

د زينب بنت جحشؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د خوبه رابيدار شو او اوئے فرمائيل لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ خرابي ده د عربو په هغه افت سره چه نږدے دے نن ورځ د ياجوج او ماجوج پرده کهولاؤ شوه. او سفيان (چه راوي دے د دے حديث) د لسو هندسه جوړه کړه (يعنې په غټه ګوته او د کلمے په ګوتے سره ئے حلقه جوړه کړه) ما عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ مونږ به تباه کيږو په داسے حالت کښې هر کله چه په مونږ کښې نيکان خلق موجود وي. حضرت ﷺ اوفرمائيل آو هر کله چه بدئ زياتے شي (يعنې فسق و فجور يا زنا يا اولاد زنا يا معاصي)

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادُوا فِي الْإِسْنَادِ عَنْ سُفْيَانَ فَقَالُوا عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ حَبِيبَةَ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ

د زهري نه په دے اسناد سره روايت دے. او په دے کښې د سفيان په واسطه سره په اسناد کښې دا زياتے دے. چه زينب بنت ابي سلمه د حبيبه نه هغې ام حبيبهؓ نه، هغې د زينب بنت جحش نه روايت کړے دے[1].

عَنْ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَزِعًا مُحْمَرًّا وَجْهُهُ يَقُولُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الْإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَهْلِكُ

د زينب بنت جحشؓ چه زوجهٔ مطهره د رسول الله ﷺ ده نه روايت دے چه يو ورځ رسول الله ﷺ د کور نه ريږدلے اووتهٔ مخ مبارک ئے سور وو او حضرت ﷺ فرمائيل لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ د عربو خرابي ده د هغې بدئ نه چه نږدے راغله نن د ياجوج او د ماجوج پرده دومره کهولاؤ شوه او حضرت ﷺ په خپله غټه ګوته او د هغې سره د نږدے ګوتے نه کړئ جوړه کړه او اوئے وئيل. نو ما اووے يا رسول الله ﷺ آيا مونږ به هلاکيږي چه په زمونږ کښې نيکان خلق وي؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل

[1] نووي وائي په دے حديث کښې څلورو صحابياتو ښځو د يو بل نه روايت کړے دے او دوه په هغوی کښې د پاکو بيبيانو نه دی يعني ام المؤمنين ام حبيبه او ام المؤمنين زينب بنت جحش.

وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ

آو هر کله چه ډیر والے د بدو خلقو شی.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِهِ

د ابن شهاب نه روایت دے څنګه چه د یونس روایت د زهری نه دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ وَعَقَدَ وُهَيْبٌ بِيَدِهِ تِسْعِينَ

د ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نن د یاجوج او ماجوج د پردے د دیوال نه دومره کهولاؤ شوے دے. (یعنی دومره روزن په هغے کښں شوے دے) او بیان کړے ده وهیب راوی دے لره د نوے په هندسه د جوړولو سره د ګوتو نه (دا د لسو د هندسے نه وړه شوه. شاید دا حدیث رومبنے وی. د زینب رضی الله عنها نه پس او کیدے شی مقصود د تمثیل وی نۀ تحدید. نووی رحمه الله)

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ ابْنِ الْقِبْطِيَّةِ قَالَ دَخَلَ الْحَارِثُ بْنُ أَبِي رَبِيعَةَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ صَفْوَانَ وَأَنَا مَعَهُمَا عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ فَسَأَلَاهَا عَنِ الْجَيْشِ الَّذِي يُخْسَفُ بِهِ وَكَانَ ذَلِكَ فِي أَيَّامِ ابْنِ الزُّبَيْرِ فَقَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُوذُ عَائِذٌ بِالْبَيْتِ فَيُبْعَثُ إِلَيْهِ بَعْثٌ فَإِذَا كَانُوا بِبَيْدَاءَ مِنَ الْأَرْضِ خُسِفَ بِهِمْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ فَكَيْفَ بِمَنْ كَانَ كَارِهًا قَالَ يُخْسَفُ بِهِ مَعَهُمْ وَلَكِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى نِيَّتِهِ وَقَالَ أَبُو جَعْفَرٍ هِيَ بَيْدَاءُ الْمَدِينَةِ

د عبید الله بن قبیطه نه روایت دے وائی چه حارث بن ربیعه او عبد الله بن صفوان دواړه د مؤمنانو د مور اُم سلمة رضی الله عنها خواله لاړل زۀ هم د هغوی سره وم. هغوی د ام سلمه نه د هغه لښکر په باره کښں تپوس اوکړو کوم چه به په زمکه کښں ننوځی او دا د هغه زمانے ذکر دے هر کله چه عبد الله بن زبیر د مکے حاکم وو. هغوی وائی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی پناه به واخلی یو پناه اخستونکے د کعبے (مراد ترے امام مهدی دے) د هغهٔ په طرف به لښکر اولیږلے شی هر کله چه هغوی میدان ته اورسی نو په زمکه کښں به ډوب شی. ما عرض اوکړو چه یا رسول الله! څوک چه په زور ددغه لښکر سره وی (او په زړهٔ کښں ورته بدګوری) حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه به هم ورسره ډوب شی. لیکن د قیامت په ورځ به د خپل نیت په بنا پاسی. ابو جعفر وائی مراد د مدینے میدان دے[1].

[1] دا د هغه زمانے ذکر دے هر کله چه عبد الله بن زبیر رضی الله عنه د مکے حاکم وو. قاضی عیاض رحمه الله وائی عبد الولید کتانی وائی دا صحیح نهٔ دے خکه چه د مومنانو د مور حضرت سلمه وفات په [illegible] کښں د معاویه په خلافت کښں شوے دے. هغوی د عبد الله بن الزبیر خلافت نۀ دے موندلے قاضی [illegible] وئیلی دی خنے وائی چه د اُم سلمه وفات د یزید بن معاویه په زمانه کښں شوے دے. په دے صورت

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِ قَالَ فَلَقِيتُ أَبَا جَعْفَرٍ فَقُلْتُ إِنَّهَا إِنَّمَا قَالَتْ بِبَيْدَاءَ مِنَ الأَرْضِ فَقَالَ أَبُو جَعْفَرٍ كَلاَّ وَاللهِ إِنَّهَا لَبَيْدَاءُ الْمَدِينَةِ

د عبد العزيز بن رفيع نه په دے اسناد سره روايت دے او په دے حديث کښې دي چه زۀ د ابوجعفر سره ميلاؤ شوم او ما اووے چه أم المؤمنين ام سلمهؓ خو د زمکے يو ميدان ونيلے دے نو ابوجعفر اووے هر گز نه قسم په خدائے هغه د مدينے ميدان دے.

عَنْ حَفْصَةَ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيَؤُمَّنَّ هٰذَا الْبَيْتَ جَيْشٌ يَغْزُونَهُ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِبَيْدَاءَ مِنَ الأَرْضِ يُخْسَفُ بِأَوْسَطِهِمْ وَيُنَادِي أَوَّلُهُمْ آخِرَهُمْ ثُمَّ يُخْسَفُ بِهِمْ فَلاَ يَبْقَى إِلاَّ الشَّرِيدُ الَّذِي يُخْبِرُ عَنْهُمْ فَقَالَ رَجُلٌ أَشْهَدُ عَلَيْكَ أَنَّكَ لَمْ تَكْذِبْ عَلَى حَفْصَةَ وَأَشْهَدُ عَلَى حَفْصَةَ أَنَّهَا لَمْ تَكْذِبْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د مؤمنانو د مور حضرت حفصےؓ نه روايت دے هغوی وائی ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو. خامخا به اراده اوکړی يو لښکر د دے خانه کعبے د جنګ د پاره هر کله چه د زمکے صفا ميدان ته اورسی نو د لښکر مينځ به په زمکه کښې ډوب شی او د رومبی سر خلق به د روستی سر خلقو ته چغے اووهی او بيا به ټول ډوب شی او يو به پکښې باقی پاتے نۀ شی مګر يو سړے به د هغوی نه بچ پاتے شی چه هغه به د هغوی حال بيانوی. يو سړی دا حديث د عبد الله بن صفوانؓ نه واوريدو او اوئے وئيل چه زۀ ګواهی ورکوم چه تا په حفصهؓ باندے دروغ نۀ دی تړلی. او حفصےؓ په رسول اللهﷺ پورے دروغ نۀ دی وئيلی.

عَنْ حَفْصَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ سَيَعُوذُ بِهٰذَا الْبَيْتِ يَعْنِي الْكَعْبَةَ قَوْمٌ لَيْسَتْ لَهُمْ مَنَعَةٌ وَلاَ عَدَدٌ وَلاَ عُدَّةٌ يُبْعَثُ إِلَيْهِمْ جَيْشٌ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِبَيْدَاءَ مِنَ الأَرْضِ خُسِفَ بِهِمْ قَالَ يُوسُفُ وَأَهْلُ الشَّامِ يَوْمَئِذٍ يَسِيرُونَ إِلَى مَكَّةَ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ صَفْوَانَ أَمَا وَاللهِ مَا هُوَ بِهٰذَا الْجَيْشِ قَالَ زَيْدٌ وَحَدَّثَنِي عَبْدُ الْمَلِكِ الْعَامِرِيُّ

د ام المؤمنين حضرت حفصےؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ فرمائيلی دی. ددے کور يعنی د کعبے پناه به داسے خلق اخلی چه د هغوی سره به منع کول نۀ وی (يعنی د دشمن د منع کولو طاقت به نۀلری) نۀ به ئے شمار زيات وی نۀ به ورسره سامان وی د هغوی په طرف به يو لښکر راوليږلے شی هر کله چه هغه د زمکے يو صفا ميدان ته راؤرسی نو ډوب به شی. يوسف اووے په دغه ورځو کښې د شام خلق د مکے په خلقو پسے جنګ

کښې به دا روايت صحيح شی. ولے چه عبد اللہ بن زبيرؓ د يزيد سره اختلاف کړے وو د معاويهؓ د وفات نه پس. طبری او ابن عبد البر په استيعاب کښې دغے له ثابت کړی دی. نوویؒ وائی ابوبکر بن خيثمه هم دغه شان ذکر کړی دی.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَابِطٍ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ عَنْ أُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ الْجَيْشَ الَّذِي ذَكَرَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ صَفْوَانَ

له راتلو (يعنی د حجاج لښکر چه د عبد الله بن زبير سره جنګ له راتلو. عبد الله بن صفوان اووے په الله قسم دے چه هغه دا لښکر نۀ دے (کوم چه حضرت ﷺ فرمائيلے دے چه به دوبيږي)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ عَبَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَنَامِهِ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ صَنَعْتَ شَيْئًا فِي مَنَامِكَ لَمْ تَكُنْ تَفْعَلُهُ فَقَالَ الْعَجَبُ إِنَّ نَاسًا مِنْ أُمَّتِي يَؤُمُّونَ بِالْبَيْتِ بِرَجُلٍ مِنْ قُرَيْشٍ قَدْ لَجَأَ بِالْبَيْتِ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالْبَيْدَاءِ خُسِفَ بِهِمْ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الطَّرِيقَ قَدْ يَجْمَعُ النَّاسَ قَالَ نَعَمْ فِيهِمُ الْمُسْتَبْصِرُ وَالْمَجْبُورُ وَابْنُ السَّبِيلِ يَهْلِكُونَ مَهْلَكًا وَاحِدًا وَيَصْدُرُونَ مَصَادِرَ شَتَّى يَبْعَثُهُمُ اللهُ عَلَى نِيَّاتِهِمْ

د ام المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے وائي چه يو ځل رسول الله ﷺ خپل لاسونه او خپے اوخوزولے. مونږ عرض اوکړو يا رسول اللهؐ تاسو په خوب کښې هغه کار اوکړو چه تاسو چرته نۀ وو کړے. حضرت ﷺ او فرمائيل حيران يمه چه څۀ خلق به ځما د امت د يو سړی دپاره د کعبے اراده اوکړی چه هغه سړے به د قريشو نه وی او پناه به اخلی په خانه کعبه کښې هر کله چه هغه بيداء ته اورسی (يو صفا ميدان ته) نو په زمکه کښې به ډوب شی. مونږه عرض اوکړو يا رسول اللهؐ په لاره خو هر قسم خلق ځی. حضرت اوفرمائيل آو په هغوی کښې به داسے خلق وی چه هغه قصداً راغلی وی او څوك به د مجبورئ نه راغلی وی او مسافر به هم وی. ليکن دا ټول به په يو ځائے هلاك شی بيا (به د قيامت په ورځ) په مختلفو نيتونو باندے الله هغوی پورته کوی (دد ے حديث نه دا معلومه شوه چه د ظالمانو فاسقانو نه په لرے اوسيدو کښې نجات دے او په ملګرتيا کښې ئے د هلاکت يره ده)

عَنْ أُسَامَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْرَفَ عَلَى أُطُمٍ مِنْ آطَامِ الْمَدِينَةِ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى إِنِّي لَأَرَى مَوَاقِعَ الْفِتَنِ خِلَالَ بُيُوتِكُمْ كَمَوَاقِعِ الْقَطْرِ

د اسامهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د مدينے په محلونو کښې په يو محل ورو اوختو بيائے اوفرمائيل. تاسو وينئ هغه څۀ چه زۀ ئے وينمه زۀ ستاسو په کورونو کښې د فتنو ځايونه داسے وينمه لکه د باران وريدو ځايونو لره. (يعنی ډيرے به وی د ځاځکو پشان چه مراد ترے جمل او صفين او حره او فتنهٔ عثمانؓ او شهادت د امام حسينؓ دے او دد ے نه سوا نور ډير فسادونه چه مسلمانانو کښې ښکاره شو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د زهري نه په دے اسناد سره داسے روایت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَكُوْنُ فِتَنٌ اَلْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي مَنْ تَشَرَّفَ لَهَا تَسْتَشْرِفْهُ وَمَنْ وَجَدَ فِيهَا مَلْجَأً فَلْيَعُذْ بِهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زر ده چه فتنے به شروع شی چه په هغے کښې به ناست غوره وی د ولاړ نه او ولاړ به غوره وی د روان نه او روان به غوره وی د منډے وهونکی نه. څوک چه د هغے تماشه کوی هغه به رانیسی. او څوک چه ترے د پناه ځائے یا د خلاصی ځائے اومومی نو پکار ده چه دهغے په پناه کښې راشی[1].

عَنْ نَوْفَلِ بْنِ مُعَاوِيَةَ مِثْلَ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ هٰذَا إِلَّا أَنَّ أَبَا بَكْرٍ يَزِيدُ مِنَ الصَّلَاةِ صَلَاةٌ مَنْ فَاتَتْهُ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ

دا هم دد ے پورته پشان ترجمه ده په دے کښې دومره زیاته ده چه یو مونځ دے په مونځونو کښې (د مازیګر مونځ) د چا نه چه دغه مونځ قضا شی نو لکه چه د هغۀ نه کور او مال لوټ شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَكُوْنُ فِتْنَةٌ اَلنَّائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْيَقْظَانِ وَالْيَقْظَانُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي فَمَنْ وَجَدَ مَلْجَأً أَوْ مَعَاذًا فَلْيَسْتَعِذْ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یوه فتنه به وی چه په هغے کښې به اوده غوره وی د ویخ نه او ویخ به غوره وی د ولاړ نه او ولاړ به غوره وی د منډے وهونکی نه. پس هغه څوک چه د پناه ځائے اومومی نو پناه د واخلی (د دغے فتنے نه)

عَنْ عُثْمَانَ الشَّحَّامِ قَالَ انْطَلَقْتُ أَنَا وَفَرْقَدٌ السَّبَخِيُّ إِلٰى مُسْلِمِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ وَهُوَ

د عثمان شحام نه روایت دے وائی چه زۀ او فرقد سبحی دواړه د مسلم بن ابی بکره خواله لاړو هغه په خپله زمکه کښې وو مونږ ئے

---

[1] په دے حدیث کښې اشاره ده د هغه فسادونو چه د حضور نه پس ظاهر شولو لکه د حضرت عثمانؓ شهادت یعنی دد ے لوئے فساد اصلاح مقدر نه ده نو کم کوشش کونکے به په دے کښې غوره وی د زیات کوشش کولو والانه په دے وجه اکثر صحابؤ په فتنه او فساد کښې په ګوټ کښې ناسته اختیار کړے وه. تحفة الاخیار، نووی وائی دد ے حدیث او دد ے نه د روستو حدیثونو نه خلقو دلیل نیولے دے چه د مسلمانانو د مینځ په فساد کې جنګیدل نه دی پکار. او جدا اوسیدل ترے غوره دی. او څوک چه ددۀ د وژلو دپاره ددۀ کورته ننوځی نو خپل خان بچ کول ترے نه دی پکار دا د ابوبکره صحابی قول دے. او د ابن عمر او عمران بن حسین په نز خپل خان بچ کول جائز دی او دفع کول ئے لازم دی. نو په دی دواړو مذهبونو کښې د فتنے په وخت یو طرفته شریکیدل ناجائز دی. او د اکثرو صحابو او تابعینو او د عامو علماؤ دا مذهب دے چه طرف د حق اختیارول پکار دی. او څوک چه په حقه وی د هغۀ په مدد کښې د باغیانو سره جنګیدل پکار دی او دا احادیث به هغه حالت باندے محمول دی هر کله چه حق ظاهر نۀ وی په هغه وخت کښې ګوشه نشینی غوره ده.

فِي أَرْضِهِ فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ فَقُلْنَا هَلْ سَمِعْتَ أَبَاكَ يُحَدِّثُ فِي الْفِتَنِ حَدِيثًا قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ أَبَا بَكْرَةَ يُحَدِّثُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتَنٌ أَلَا ثُمَّ تَكُونُ فِتْنَةٌ الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي فِيهَا وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي إِلَيْهَا أَلَا فَإِذَا نَزَلَتْ أَوْ وَقَعَتْ فَمَنْ كَانَ لَهُ إِبِلٌ فَلْيَلْحَقْ بِإِبِلِهِ وَمَنْ كَانَتْ لَهُ غَنَمٌ فَلْيَلْحَقْ بِغَنَمِهِ وَمَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَلْحَقْ بِأَرْضِهِ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ إِبِلٌ وَلَا غَنَمٌ وَلَا أَرْضٌ قَالَ يَعْمِدُ إِلَى سَيْفِهِ فَيَدُقُّ عَلَى حَدِّهِ بِحَجَرٍ ثُمَّ لِيَنْجُ إِنِ اسْتَطَاعَ النَّجَاءَ اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ أُكْرِهْتُ حَتَّى يُنْطَلَقَ بِي إِلَى أَحَدِ الصَّفَّيْنِ أَوْ إِحْدَى الْفِئَتَيْنِ فَضَرَبَنِي رَجُلٌ بِسَيْفِهِ أَوْ يَجِيءُ سَهْمٌ فَيَقْتُلُنِي قَالَ يَبُوءُ بِإِثْمِهِ وَإِثْمِكَ وَيَكُونُ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ

خواله لاړو او ورته مونږه اووے . آیا تا د خپل پلار نه د فتنو مطابق حدیث اوریدلے دے؟ هغوی اووے آو ما اوریدلے دے حدیث د ابوبکره نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بیشکه ځو فتنے به وی خبردار شئ هلته به ځو فتنے وی. چه ناست به په هغوی کښ غوره وی د روان نه او روان به په هغوی کښ غوره وی د منډے وهونکی نه خبردار هر کله چه فتنه او فساد نازل شی یا واقع شی. نو د چا چه اوښان وی هغه دِ د خپلو اوښانو خواله لاړ شی او د چا چه بزے وی هغه دِ خپلو بزو خواله دِ لاړ شی (یعنی هلته دِ اوسیږی) او د چا چه زمکه وی (د زمینداری) هغه دِ پخپله زمکه باندی پاتے شی. یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ چه د چا نۀ اوښان وی نۀ بزے او نۀ زمکه نو هغه به څۀ کوی. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه به خپله توره واخلی او دار به ورله په کټه او تکوی (یعنی د جنګ یو څیز به باقی نۀ ساتی چه د جنګ دپاره حوصله وی) بیا د، تادی کوی په خپل خلاصی کښ څومره چه ترے کیدے شی. اے الله ما ستا حکم اورسوؤ. اے الله ما ستا حکم اورسوؤ. اے الله ما ستا حکم اورسوؤ. یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ اوښایئ ما ته کچرے په ما باندے زبردستی اوکړی تردے پورے چه د دوو صفونو نه یا د دوو ټولګو نه مے یو ته بوځی. بیا هلته ما په توره اووهی یا یو غشے راشی او ما قتل کړی. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه به خپل او ستا ګناه پیتے کړی او دوزخ ته به ځی[1].

عَنْ عُثْمَانَ الشَّحَّامِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د عثمان شحّام نه په دے اسناد سره روایت دے حدیث د ابن عدی

[1] حضرت ﷺ ته معلومه وه چه خما نه پس به فسادونه او په مسلمانانو کښ قتلونه شروع شی ځکه حضرت ﷺ دا حدیث اوفرمائیل او په دغه وخت کښ نے ګوشه ګیری اوښودله اکثر د حضرت ﷺ صحابه لکه عبد الله بن عمر او سعد ابن ابی وقاص او ابوبکره د مسلمانان په جنګ کښ شریک نۀ شو د دے حدیث په موجب (تحفة الاخیار)

حَدِيثُ ابْنِ أَبِي عَدِيٍّ نَحْوَ حَدِيثِ حَمَّادٍ إِلَى آخِرِهِ وَانْتَهَى حَدِيثُ وَكِيعٍ عِنْدَ قَوْلِهِ إِنِ اسْتَطَاعَ النَّجَاءَ وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ

د حماد د حديث پشان دے. او د وكيع حديث دد ے قول پورے دے چه كچرے خپل بچاؤ كولے شی. او ددے نه روستو د مضمون ذكر نه دے كړے.

عَنِ الأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ خَرَجْتُ وَأَنَا أُرِيدُ هَذَا الرَّجُلَ فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرَةَ فَقَالَ أَيْنَ تُرِيدُ يَا أَحْنَفُ قَالَ قُلْتُ أُرِيدُ نَصْرَ ابْنِ عَمِّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي عَلِيًّا قَالَ فَقَالَ لِي يَا أَحْنَفُ ارْجِعْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا تَوَاجَهَ الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ قَالَ فَقُلْتُ أَوْ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ قَالَ إِنَّهُ قَدْ أَرَادَ قَتْلَ صَاحِبِهِ

د احنف بن قيس نه روايت دے وائی چه زۀ راااووتم په دے اراد ے سره چه ددے سړی شريك شم (يعنی د حضرت علیؓ په مقابله د معاويهؓ كښ) په لاره كښ خما سره ابوبكره ميلاؤ شو او اونے وئيل اے احنف ته چرته ځے. ما اووے زۀ مدد كول غواړم د رسول الله ﷺ د ترۀ د ځوئ حضرت علیؓ ابوبكرهؓ اووے اے احنف ته واپس شه ولے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو هر كله چه دوه مسلمانان په يو بل پسے تورے راواخلی نو وژونكے او وژلے شوے دواړه جهنميان دی. ما عرض اوكړو يا بل چا اووے يا رسول الله ﷺ قاتل خو به جهنم ته ځی ليكن مقتول به ولے ځی. حضرت ﷺ اوفرمائيل هغه هم د خپل ملګری په قتل پسے وو[1].

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ

د ابوبكرهؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. هر كله چه دوه مسلمانان په تورو سره يو بل ته مخامخ شی نو قاتل او مقتول دواړه به جهنم ته ځی.

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابوبكرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی هر كله چه

---

[1] نوویؒ وائی دا په داسے وخت كښ چه هر كله جنګ د څۀ شرعی وجے نه نۀ وی او صرف د تعصب او دشمنئ وی. مطلب دا چه هغه دواړه جهنميان دی بيا به چرته هغوی ته بدله ميلاويږی او چرته به الله هغه معاف كوی. د اهلِ حق دغه مذهب دے. او دا مضمون څۀ مخكښ تير شوے دے او په صحابو كښ چه كوم قتال شوے دے هغه په وعيد كښ داخل نۀ دی. او د اهل سنتو مذهب دادے چه په هغوی باندے نيك ګمان كول او د هغوی په جنګونو سكوت اختيارول او د هغوی تاويل په خير سره كول پكار دی. ځكه چه هغه مجتهد وو او نيت ئے د ګناه يا ددنيا د ګټلو نۀ وو بلكه هرے فرقے خپل ځان په حقه او بله فرقه ئے باغی ګڼړله او د الله د حكم په بنا ئے د هغه سره جنګيدل واجب ګڼړلو او د چا نه چه خطا شوے ده هغه معذور وو. ځكه چه مجتهد په خطا كښ معذور دے. او په دے كښ شك نشته چه په دغه ټولو جنګونو كښ حضرت علی په حقه وو. د اهل سنت دغه مذهب دے او په وجه د اشتباه د دواړو فرقونه جدا شی

وسلَّم قال إذا المُسلمانِ حملَ أحدُهُما على أخيهِ السِّلاحَ فهُما على جُرفِ جهنَّمَ فإذا قتلَ أحدُهُما صاحبَهُ دخلاها جميعًا

دوه مسلمانان په یو بل پسے اسلحه راواخلي نو هغه دواړه د جهنم غاړے ته اورسیدو. پس کچرے یو هغه بل اووژلو نو داړه به جهنم ته ځي.

عن همَّامِ بنِ مُنبِّهٍ قال هذا ما حدَّثنا أبو هريرةَ عن رسولِ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّم فذكرَ أحاديثَ منها وقال رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّم لا تقومُ السَّاعةُ حتَّى تقتتِلَ فِئتانِ عظيمتانِ وتكونُ بينهُما مقتلةٌ عظيمةٌ ودعواهُما واحدةٌ

د همام بن منبه نه روایت دے وائي چه ما ته ابوهریرهؓ بیان کړے دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي قیامت به نۀ قائميږي تر هغے پورے چه دوه لویو لویو تولګو نه به اوجنګیږي (د مسلمانانو) په هغوی کښې به غټ جنګ اوشي او د دواړو دعوه به یوه وي. (یعنی د دواړو دین به یو وي او دواړه به دا دعوه کوي چه مونږ د الله دپاره جنګیږو)

عن أبي هريرةَ أنَّ رسولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّم قال لا تقومُ السَّاعةُ حتَّى يكثُرَ الهرجُ قالوا وما الهرجُ يا رسولَ اللهِ قال القتلُ القتلُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي قیامت به نۀ قائميږي تر هغے پورے چه حرج به ډیر شي. خلقو عرض اوکړو. حرج څۀ دے یا رسول الله؟ حضرتﷺ اوفرمائیل قتل قتل. (یعنی وینے به ډیرے توئیږي)

عن ثوبانَ قال قال رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّم إنَّ اللهَ زوى لي الأرضَ فرأيتُ مشارقَها ومغاربَها وإنَّ أُمَّتي سيبلغُ مُلكُها ما زُوِيَ لي منها وأُعطيتُ الكنزينِ الأحمرَ والأبيضَ وإنِّي سألتُ ربِّي لأُمَّتي أن لا يُهلِكَها بسنةٍ عامَّةٍ وأن لا يُسلِّطَ عليهِم عدوًّا من سِوى أنفُسِهِم فيستبيحَ بيضتَهُم وإنَّ ربِّي قال يا محمَّدُ إنِّي إذا قضيتُ قضاءً فإنَّهُ لا يُرَدُّ وإنِّي أعطيتُكَ لأُمَّتِكَ أن لا أُهلِكَهُم بسنةٍ عامَّةٍ وأن لا

د ثوبانؓ نه روایت دے وائي رسول اللهﷺ فرمائیلي دي چه الله تعالی راغونډه کړه ځما دپاره زمکه لره (یعنی ټوله زمکه ئے غونډه ځما مخکښې کیښوده) نو ما د هغے مشرق او مغرب اولیدۀ. او زرده چه ځما اُمت به د هغے ځائے پورے اُورسي د کومے پورے چه ما ته ذمکه اوښودلے شوه. او ما ته دوه خزانے میلاؤ شوے سره او سپینه او ما دُعا اوکړه د خپل پروردګار نه چه ځما امت لره په قحط سالۍ سره هلاك نۀ کړے او په هغوی باندے څوك غیر دشمن داسے غالب نۀ کړے چه د هغوی غنډه ماته کړي او د هغوی جرړه کټ کړي (یعنی چه بالکل نیست او نابود ئے کړي) ځما رب اوفرمائیل اے محمده چه څۀ حکم اوکړم هغه واپس کیدے نۀ شي. او ما ستا دا دُعاګانے قبولے کړے.

أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ يَسْتَبِيحُ بَيْضَتَهُمْ وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا أَوْ قَالَ مَنْ بَيْنَ أَقْطَارِهَا حَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ يُهْلِكُ بَعْضًا وَيَسْبِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا

زۀ به د اُمت په قحط سالۍ سره نۀ هلاکوم نۀ په هغوی به خوك غیر دشمن چه د هغوی نه نۀ وی غالب کړم چه هغه د هغوی زیلے کټ کړی اګر کۀ د ټولے زمکے خلق یو ځائے شی (د مسلمانانو د تباه کولو دپاره خو هغوی به نۀ شی تباه کولے) تر هغے پورے چه پخپله به مسلمان یو بل هلاك کړی او یو بل به قید کړی[1].

عَنْ ثَوْبَانَ أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى زَوَى لِي الْأَرْضَ حَتَّى رَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَأَعْطَانِي الْكَنْزَيْنِ الْأَحْمَرَ وَالْأَبْيَضَ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ

د ثوبانؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله تعالی خما دپاره زمکه راغونډه کړه تردے پورے چه ما ددے مشرقی او مغربی حصے اولیدے. او الله تعالی ما ته دوه خزانے سره او سپین راکړے. بیائے د ابوقلابه د حدیث پشان ذکر کړو.

عَنْ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ ذَاتَ يَوْمٍ مِنَ الْعَالِيَةِ حَتَّى إِذَا مَرَّ بِمَسْجِدِ بَنِي مُعَاوِيَةَ دَخَلَ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْنَا مَعَهُ وَدَعَا رَبَّهُ طَوِيلًا ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَيْنَا فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلْتُ رَبِّي ثَلَاثًا فَأَعْطَانِي ثِنْتَيْنِ وَمَنَعَنِي

د سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ عالیه ته راغے. (عالیه د مدینے نه بهر یو کلے دے) حضرتؐ د بنی معاویه په جماعت باندے د تیریدو په وخت هغے ته داخل شو او دوه رکعته مونځ ئے پکښ اوکړو. مونږ هم د هغوی سره مونځ ادا کړو. حضرت د ډیره وخته پورے د خپل پروردګار نه دُعا اوغوښته بیا زمونږ خواله راغے او اوئے فرمائیل ما د خپل رب نه درے دُعا ګانے اوغوښتے. لیکن هغه دوه دُعا ګانے قبولے کړے او یوه ئے قبوله نۀ کړه ما د خپل رب نه دا دُعا

---

[1] تردے پورے چه پخپله به مسلمان یو بل هلاك کړی او یو بل به قید کوی. لکه څنګه چه حضرت ﷺ فرمائیلی وو. هم دغسے اوشوه. د نن ورځے پورے چرته هم کافران په مسلمانانو باندے داسے نۀ دی غالب شوی چه د اسلام زیله کټ کړی او د مسلمانانو قوت بالکل پاتے نۀ شی. په دے زمانه کښ د څلورو طرفونو نه په مسلمانانو کافر راغونډ دی ته به وائے د اکثرو ملکونو نه هندوستان، چین، اندلس، بخارا، خیوا، کاشغر وغیره نه د مسلمانانو حکومت تلے دے. باوجود ددے اوس هم د مسلمانانو حکومت په عربو او په روم او په مصر او په سوډان او په مغرب او زنجبار او ایران او افغانستان کښ موجود دے. اګر چه په دے ملکونو کښ مسلمان په شرع نۀ چلیږی او ظلم او زیادتی کوی خو کۀ اوس هم هوښیار نۀ شو او د نوی سره په شرع قائم نۀ شی او د الله په کتاب او د رسول اللهؐ په حدیث نۀ چلیږی نو یره ده چه په نورو خو ورځو کښ کافران به باقی پاتی شوی ملکو نه ددوی نه واخلی. او هغه وعده پوره شی چه اسلام به په آخره زمانه کښ مدینے ته راغونډ شی لکه څنګه چه ما راغونډ شی او په سوری کښ ننوځی.

وَاحِدَةً سَأَلْتُ رَبِّي أَنْ لاَ يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالسَّنَةِ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لاَ يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالْغَرَقِ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لاَ يَجْعَلَ بَأْسَهُم بَيْنَهُم فَمَنَعَنِيهَا

او وکړه چه خما اُمت په قحط سره مهٔ هلاکوه (یعنی دا دُعا قبوله شوه. او ما دا دُعا اوکړه چه خما امت (یعنی ټول اُمت) د اوبو په ډوبیدو کښې مهٔ هلاکوه نو دا هم قبوله شوه. او ما دا دُعا اوکړه چه مسلمانان د په خپلو کښې د یو بل سره نهٔ جنګیږی نو دائے قبوله نهٔ کړه)

عَنْ سَعْدٍ أَنَّهُ أَقْبَلَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَائِفَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَمَرَّ بِمَسْجِدِ بَنِي مُعَاوِيَةَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ

د سعدؓ نه روایت دے چه هغه د رسول الله ﷺ او د څو صحابو سره راغے. بیا حضرت ﷺ د بنی معاویه په یو جماعت باندے تیر شو. بیا ئے بیان کړو حدیث لره لکه چه پورته تیر شو.

عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ كَانَ يَقُولُ قَالَ حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ وَاللهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ النَّاسِ بِكُلِّ فِتْنَةٍ هِيَ كَائِنَةٌ فِيمَا بَيْنِي وَبَيْنَ السَّاعَةِ وَمَا بِي إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسَرَّ إِلَيَّ فِي ذَلِكَ شَيْئًا لَمْ يُحَدِّثْهُ غَيْرِي وَلَكِنْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ يُحَدِّثُ مَجْلِسًا أَنَا فِيهِ عَنِ الْفِتَنِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَعُدُّ الْفِتَنَ مِنْهُنَّ ثَلَاثٌ لَا يَكَدْنَ يَذَرْنَ شَيْئًا وَمِنْهُنَّ فِتَنٌ كَرِيَاحِ الصَّيْفِ مِنْهَا صِغَارٌ وَمِنْهَا كِبَارٌ قَالَ حُذَيْفَةُ فَذَهَبَ أُولَئِكَ الرَّهْطُ كُلُّهُمْ غَيْرِي

د ادریس خولانی نه روایت دے وائی چه حذیفهؓ به وئیل په الله قسم دے چه زهٔ د ټولو خلقو نه زیات د هرے فتنے نه خبر یم چه هغه خما او د قیامت په مینځ کښې وی. او دا خبره نهٔ ده چه رسول الله ﷺ په پټه خاص ما ته یوه خبره بیان کړی وی چه هغه ئے نورو ته نهٔ وی بیان کړی. لیکن رسول الله ﷺ په یو مجلس کښې د فتنو بیان کولو چه هلته زهٔ هم وم نو حضرت ﷺ اوفرمائیل او هغوی شمار ولے فتنو لره چه درے د هغے نه داسے دی چه هغه به نږدے نږدے څهٔ پرینږدی. او ځنے د هغے نه د ګرمئ د طوفانونو پشان دی ځنے په هغوی کښې وړے دی او ځنے پکښې لوئے دی. حذیفهؓ وائی په هغه مجلس کښې چه څومره خلق وو ټول تیر شوی دی یو زهٔ باقی پاتے یم. (د دے وجے نه اوس خما نه زیات څوك د فتنو پیژندونکے باقی پاتے نهٔ شو)

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَامًا مَا تَرَكَ شَيْئًا يَكُونُ فِي مَقَامِهِ ذَلِكَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا حَدَّثَ بِهِ حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ قَدْ عَلِمَهُ أَصْحَابِي هَؤُلَاءِ وَإِنَّهُ لَيَكُونُ مِنْهُ

د حذیفهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په مونږ کښې اودریدو (د وعظ اوروَلو دپاره) نو هیڅ یوه خبره ئے پرے نهٔ خودہ. د دے وخت نه واخله د قیامته پورے کیدونکی مګر هغے لره ئے بیان کړه. پس یاد اوساتهٔ هغه چا چه یاد ئے کړو او هیر کړو هغه چا چه هیرولوئے پس خما ملګرے پوهه دے په هغے باندے. او ځنے خبره داسے وی

الشَّيْءُ قَدْ نَسِيتُهُ فَأَرَاهُ فَأَذْكُرُهُ كَمَا يَذْكُرُ الرَّجُلُ وَجْهَ الرَّجُلِ إِذَا غَابَ عَنْهُ ثُمَّ إِذَا رَآهُ عَرَفَهُ

چه هغه خما نه هیره شی. بیا چه هر کله زۀ دۀ ته اوګورم نو را یاده شی. لکه څنګه چه یو بنده ته د بل بنده مخ یادوی بیا هر کله چه ئے اووینی نو اوئے پیژنی.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ إِلَى قَوْلِهِ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ

د اعمش نه په دے اسناد سره صرف د دے خائے پورے دے چه هیر ئے کړل هغه چا چه هیر ئے کړل. د دے نه د روستو ذکر ئے اونکړو

عَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّهُ قَالَ أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى أَنْ تَقُومَ السَّاعَةُ فَمَا مِنْهُ شَيْءٌ إِلَّا قَدْ سَأَلْتُهُ إِلَّا أَنِّي لَمْ أَسْأَلْهُ مَا يُخْرِجُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ مِنَ الْمَدِينَةِ

د حذیفهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ ما ته هره یوه خبره ښودلے ده کومه چه د قیامته پورے کیدونکے ده. او یوه خبره داسے نه ده پاتے چه د هغے ما د حضرتﷺ نه تپوس نه وی کړے البته دا تپوس مے نه دے کړے چه مدینے والا به څوک اوباسی د مدینے نه

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د شعبه نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ أَبِي زَيْدٍ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْفَجْرَ وَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى حَضَرَتِ الظُّهْرُ فَنَزَلَ فَصَلَّى ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى حَضَرَتِ الْعَصْرُ ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ فَأَخْبَرَنَا بِمَا كَانَ وَبِمَا هُوَ كَائِنٌ فَأَعْلَمُنَا أَحْفَظُنَا

د ابوزید نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ د سحر مونځ ادا کړو او منبر ته اوختۀ او مونږ ته ئے وعظ شروع کړو تر دے پورے چه د ماسپخین وخت راغے. بیا راکوز شو او مونځ ئے اوکړو. بیا منبر ته اوختو او مونږ ته ئے وعظ شروع کړو تر دے پورے چه د مازیګر وخت راغے. بیا د منبر نه راکوز شو او مونځ ئے اوکړو او بیا منبر ته اوختۀ او مونږ ته ئے وعظ شروع کړو. تر دے پورے چه نمر پریوتۀ نو خبر ئے راکړو مونږ له د هغه خبرو چه کومے به کیږی او کیدونکے وے. او د ټولو نه زیات په مونږ کښې عالم هغه دے چا چه د ټولو نه زیاتے دغه خبرے یاد کړے وی.

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ فَقَالَ أَيُّكُمْ يَحْفَظُ حَدِيثَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْفِتْنَةِ كَمَا قَالَ قَالَ فَقُلْتُ أَنَا قَالَ إِنَّكَ لَجَرِيءٌ وَكَيْفَ

د حذیفهؓ نه روایت دے وائی چه مونږ د حضرت عمرؓ سره ناست وو. هغوی اووے پتاسو کښې چا ته فتنے په باره کښې د رسول اللهﷺ حدیث یاد دے. ما اووے ما ته یاد دے. حضرت عمرؓ اووے ته لوئے بهادر ئے ښه ده وایه حضرتﷺ څۀ فرمائیلی دی. ما اووے ما

قَالَ قَالَ قُلْتُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِتْنَةُ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَنَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَجَارِهِ يُكَفِّرُهَا الصِّيَامُ وَالصَّلَاةُ وَالصَّدَقَةُ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ فَقَالَ عُمَرُ لَيْسَ هٰذَا أُرِيدُ إِنَّمَا أُرِيدُ الَّتِي تَمُوْجُ كَمَوْجِ الْبَحْرِ قَالَ فَقُلْتُ مَا لَكَ وَلَهَا يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّ بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا بَابًا مُغْلَقًا قَالَ أَفَيُكْسَرُ الْبَابُ أَمْ يُفْتَحُ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ يُكْسَرُ قَالَ ذٰلِكَ أَحْرَى أَنْ لَا يُغْلَقَ أَبَدًا قَالَ فَقُلْنَا لِحُذَيْفَةَ هَلْ كَانَ عُمَرُ يَعْلَمُ مَنِ الْبَابُ قَالَ نَعَمْ كَمَا يَعْلَمُ أَنَّ دُوْنَ غَدٍ اللَّيْلَةَ إِنِّي حَدَّثْتُهُ حَدِيثًا لَيْسَ بِالْأَغَالِيطِ قَالَ فَهِبْنَا أَنْ نَسْأَلَ حُذَيْفَةَ مَنِ الْبَابُ فَقُلْنَا لِمَسْرُوْقٍ سَلْهُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ عُمَرُ

اوریدلی دی د رسول الله نه حضرت ﷺ وفرمائیل سړی ته چه څهٔ فتنه کیږی د هغهٔ د کور والاؤ او د مال او خان او د اولاد نه د هغهٔ کفاره کیږی روژه او مونځ او صدقه او د ښو خبرو حکم کول او بدو خبرو نه منع کول. حضرت عمرؓ اووے زهٔ ددغې فتنې تپوس نهٔ کوم. زهٔ د هغې فتنې تپوس چه د دریاب د چپو پشان چپې به وهی (یعنی د هغې اثر به په ټولو مسلمانانو وی) ما اووے اے امیر المؤمنین ستاسو ددغې فتنې نه څهٔ غرض دے. ستاسو او د هغې په مینځ کښې خو یوه بنده دروازه ده. حضرت عمرؓ اووے هغه دروازه به ماته شی یا بیرته به شی. ما اووے هغه نه بلکه ماته به شی. حضرت عمرؓ اووے. چه داسے ده نو بیا به چرته بند نهٔ وی (ځکه چه دروازه ماته شوه نو بند څنګه کیدے شی. شقیق اووے. مونږ خلقو حذیفهؓ ته اووے. آیا حضرت عمرؓ ته معلوم وو (چه د دروازے نه څوك مراد دے ۱۲). اوئے فرمائیل آو څنګه چه دا ورته معلوم وو چه د صبانے ورځے نه پس به شپه وی او ما هغوی ته حدیث بیان کړے وو چه لغوه نهٔ وو. شقیق اووے. مونږ خلق اوېریدو د حذیفهؓ نه په دے تپوس کولو کښې چه هغه دروازه څوك دے. مونږ مسروق ته اووے ته تپوس اوکړه. هغوی د حذیفهؓ نه تپوس اوکړو. حذیفهؓ اووے هغه دروازه د حضرت عمرؓ ذات وو[1]

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ وَفِي حَدِيثِ عِيسَى عَنِ

د اعمش نه په دے اسناد سره د ابومعاویه د حدیث پشان روایت دے. او د عیسیٰ حدیث داسے مروی دے چه عیسیٰ د اعمش نه

---

[1] د هغه ماتیدل د هغهٔ شهید کیدل دی په کومه ورځ چه حضرت عمرؓ شهید شو نو د فتنو دروازه بیرته شوه او په مسلمانانو کښې غم سوا کیدل شروع شو رو رو د حضرت عثمان شهادت ته خبره اورسیده او بیا خو فتنو لکه د سمندر چپے وهل شروع کړل. او په خپلو کښې د جنګونو بازار ګرم شو او څهٔ چه کیدل هغه اوشو. سبحٰن الله د حضرت عمرؓ درجه دد دے حدیث نه معلومیږی چه داسے درجه چاته نهٔ ده میلاؤ شوے. د هغوی ذات بابرکات د مسلمانانو پُشت پناه او په کافرانو باندے رعب وو رضی الله تعالی عنه

الْأَعْمَشِ عَنْ شَقِيقٍ قَالَ سَمِعْتُ حُذَيْفَةَ يَقُولُ

هغهٔ د شقیق نه روایت کړے دے شقیق وئیلی دی حذیفهؓ لره چه ویل ئې.

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ عُمَرُ مَنْ يُحَدِّثُنَا عَنِ الْفِتْنَةِ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

د حذیفهؓ نه روایت دے چه حضرت عمرؓ وئیلی دی. موږ ته به د فتنې په باره کښې څوک حدیث بیان کړی مخکښې حدیث د پورتنی حدیثو پشان پوره حدیث بیان کړو.

عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ قَالَ جُنْدُبٌ جِئْتُ يَوْمَ الْجَرَعَةِ فَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ فَقُلْتُ لَيُهْرَاقَنَّ الْيَوْمَ هَاهُنَا دِمَاءٌ فَقَالَ ذَاكَ الرَّجُلُ كَلَّا وَاللهِ قُلْتُ بَلَى وَاللهِ قَالَ كَلَّا وَاللهِ قُلْتُ بَلَى وَاللهِ قَالَ كَلَّا وَاللهِ إِنَّهُ لَحَدِيثُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنِيهِ قُلْتُ بِئْسَ الْجَلِيسُ لِي أَنْتَ مُنْذُ الْيَوْمِ تَسْمَعُنِي أُخَالِفُكَ وَقَدْ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا تَنْهَانِي ثُمَّ قُلْتُ مَا هٰذَا الْغَضَبُ فَأَقْبَلْتُ عَلَيْهِ وَأَسْأَلُهُ فَإِذَا الرَّجُلُ حُذَيْفَةُ

د محمد نه روایت دے وائی چه جندب وئیلی دی چه زهٔ د جرعے په ورځ (یعنی په په کومه ورځ چه په جرعه کښې فساد کیدونکے وو جرعه یو مقام دے په کوفه کښې چرته چه کوفے والا د سعید بن عاص سره د جنګ دپاره جمع شوی وو. هر کله چه حضرت عثمانؓ هغوی لره د کوفے حاکم کړے لیږلے وو) راغلم او یو سړے مے ناست اولیدهٔ. ما اووے نن خو به دلته بنه وینې توئ شی. هغه سړی اووے هیڅ کله نه قسم په خدائے چه وینې به نهٔ توئیږی. ما اووے په الله قسم دے هیڅ کله به وینې نهٔ توئیږی. او ما په دے باب کښې د رسول اللهﷺ نه یو حدیث اوریدلے دے چه هغوی ما ته فرمائیلے وو. ما اووے ته بد ملګرے خما نن ورځ خکه چه تا اوریدلی دی او زهٔ ستا خلاف کوم او په تحقیق سره تا اوریدلے دے د رسول اللهﷺ نه او ما نهٔ منع کوے. بیا ما اووے د دے غصے نه څهٔ فائده ده او د هغه سړی په طرف متوجے شوم او تپوس مے ترے اوکړو نو معلومه شوه چه حذیفهؓ صحابی وو.[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتّٰى

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل. قیامت به نهٔ قائمیږی تر هغه وخته پورے چه په فرات کښې به یو غر ښکاره شی د

---

[1] زهٔ ستا خلاف کوم او تا یو حدیث د رسول اللهﷺ اوریدلے دے او ما نهٔ منع کوے. یعنی په رومبی ځل چه ما ستا خلاف اوکړو نو تا به دا وئیلی وو چه دا زهٔ د حدیث د مخه وایم چه وینې به نهٔ توئیږی. نو ما به ولے خلاف کول سبحن الله! یوه هغه زمانه وه چه د ناخبرتیا په وجه چه به ئے هم د خلے نه څهٔ خبره اووته نو بده به ئے اوګڼله او ستومانه به شو. یا خو دا د جالی زمانه ده چه رسول اللهﷺ حدیثو د معلومیدو باوجود د هغے خلاف کوی. او ستومانه کیږی نه



يَحْسِرَ الْفُرَاتُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ يَقْتَتِلُ النَّاسُ عَلَيْهِ فَيُقْتَلُ مِنْ كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ وَيَقُولُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْهُمْ لَعَلِّي أَكُونُ أَنَا الَّذِي أَنْجُو

سروزرو خلق به د هغې دپاره جنګيږي نو په هرو سلو کښې به يو کم سل وژلې کيږي او هر سړے به دا وائي (په خپل زړه کښې) کيدے شي چه بچ شم (او دا سونا حاصله کړم. معاذ الله دنيا داسې خراب شے دے چه خلق پسې خپل ځان او عزت قربانوي خو بيا هم نه حاصليږي. عقل هغه دے چه د اول نه دے نالائقه بدمعاشې له طلاق ورکړي)

عَنْ سُهَيْلٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَزَادَ فَقَالَ أَبِي إِنْ رَأَيْتَهُ فَلَا تَقْرَبَنَّهُ

د سهيل نه په دے اسناد سره دغسې روايت دے او په دے کښې دومره زياته ده چه څما پلار اووے چه کچرے ته دا غر اووينې نو د دے خواته مه ځه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ الْفُرَاتُ أَنْ يَحْسِرَ عَنْ كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ فَمَنْ حَضَرَهُ فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا

د ابوهريرة نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل نزدے ده چه په فرات کښې به يوه خزانه رااوځي. پس څوک چه هلته موجود وي نو د هغې نه څه مه اخلئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ الْفُرَاتُ أَنْ يَحْسِرَ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ فَمَنْ حَضَرَهُ فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. قريبه ده چه په فرات کښې به يو غر رااوځي نو څوک چه هلته موجود وي نو هغه دے د دے نه څه نه اخلي.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ قَالَ كُنْتُ وَاقِفًا مَعَ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ فَقَالَ لَا يَزَالُ النَّاسُ مُخْتَلِفَةً أَعْنَاقُهُمْ فِي طَلَبِ الدُّنْيَا قُلْتُ أَجَلْ قَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ يُوشِكُ الْفُرَاتُ أَنْ يَحْسِرَ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ فَإِذَا سَمِعَ بِهِ النَّاسُ سَارُوا إِلَيْهِ فَيَقُولُ مَنْ عِنْدَهُ لَئِنْ تَرَكْنَا النَّاسَ يَأْخُذُونَ مِنْهُ لَيُذْهَبَنَّ بِهِ كُلِّهِ قَالَ فَيَقْتَتِلُونَ عَلَيْهِ فَيُقْتَلُ مِنْ كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ قَالَ أَبُو كَامِلٍ فِي حَدِيثِهِ قَالَ وَقَفْتُ

د عبد الله بن حارث بن نوفل نه روايت دے وائي چه زۀ د أبيّ بن کعبؓ سره ولاړ وم. هغوی اووے هميشه خلق د دنيا ګټلو په فکر کښې دي. ما اووے آو. هغوی اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئې وو. نزدے ده چه په فرات کښې به د سروزرو يو غر ښکاره شي خلق چه هر کله دا واوري نو د هغې په طرف به روان شي. او کوم خلق چه هلته وي هغه به اووائي کچرے مونږه دے غر ته د اخستو دپاره خلق پريږدو نو ټول غر به رانه ويسي. آخر په جنګ به شروع اوکړي نو په سلو کښې به يو کم سل کسان مړۀ کيږي. ابوکامل پخپل روايت کښې وئيلي دي چه زۀ او أبيّ بن کعبؓ دواړه د

أَنَا وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ فِي ظِلِّ أُجُمِ حَسَّانَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنَعَتِ الْعِرَاقُ دِرْهَمَهَا وَقَفِيزَهَا وَمَنَعَتِ الشَّأْمُ مُدْيَهَا وَدِينَارَهَا وَمَنَعَتْ مِصْرُ إِرْدَبَّهَا وَدِينَارَهَا وَعُدْتُمْ مِنْ حَيْثُ بَدَأْتُمْ وَعُدْتُمْ مِنْ حَيْثُ بَدَأْتُمْ وَعُدْتُمْ مِنْ حَيْثُ بَدَأْتُمْ شَهِدَ عَلَى ذَلِكَ لَحْمُ أَبِي هُرَيْرَةَ وَدَمُهُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَنْزِلَ الرُّومُ بِالْأَعْمَاقِ أَوْ بِدَابِقٍ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِمْ جَيْشٌ مِنَ الْمَدِينَةِ مِنْ خِيَارِ أَهْلِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ فَإِذَا تَصَافُّوا قَالَتِ الرُّومُ خَلُّوا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الَّذِينَ سَبَوْا مِنَّا نُقَاتِلْهُمْ فَيَقُولُ الْمُسْلِمُونَ لَا وَاللهِ لَا نُخَلِّي بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا فَيُقَاتِلُونَهُمْ فَيَنْهَزِمُ ثُلُثٌ لَا يَتُوبُ اللهُ عَلَيْهِمْ أَبَدًا وَيُقْتَلُ ثُلُثُهُمْ أَفْضَلُ

حسان د قلعه په سوری باندے ولاړ وو.

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی د عراق ملك به خپل درم او قفير منع کوی د شام ملك به خپل مدی او دينار منع کړی او د مصر ملك به خپل اردب لره منع کړی او تاسو به داسے شئ لکه څنګه چه مخکښ وئ او تاسو به داسے شئ لکه څنګه چه مخکښ وئ. بيا ابوهريرهؓ اووے چه په دے حديث باندے ګواهي ورکوی د ابوهريرهؓ غوښه اووينه (يعنی په دے کښ څۀ شك نشته)[1].

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی قيامت به نۀ قائميږی تر هغے پورے چه د روم د نصاراؤ لښکر په اعماق يا دابق کښ کوز شی (دا دواړو مقامات په شام کښ دی حلت ته نژدے) بيا به په مدينه کښ يو لښکر راووځی چه هغه به په دغه ورځ د ټولے زمکے په اوسيدونکو کښ غوره وی. هر کله چه صفونه اوتړلے شی د دواړو لښکرونو نصاری به اووائی تاسو جدا شئ د هغه خلقو نه (يعنی د هغه مسلمانانو نه) چا چه به زمونږ ښځے او خامن وينځی او غلامان کړی وو مونږ د هغوی سره جنګيږو. مسلمانان به اووائی په الله قسم دے مونږ چرته هم د خپلو رونړو نه نۀ جدا کيږو. بيا به جنګ شروع شی نو د مسلمانانو په درے حصے لښکر کښ به يوه حصه اوتښتی. د هغوی

[1] قفير او مدی د پيمانے نوم دے چه په هغے سره غلے ناپ کوی او اردبد خلور شپيتۀ سيرو وی په دی حديث کښ د آخرے زمانے د فتنے او فساد خبر دے چه د دغه ملکونو امام ته به محصول نۀ ميلاويږی رعيت به د سردار اطاعت نۀ کوی. لکه چه د اسلام نه مخکښ دا ملك خو د سر وو هم دغسے به شی. نوویؒ وائی د حديث معنی داده چه د هغه ملکونو خلق به مسلمانان شی او د اسلام په وجه سره به جزيه ساقطه شی يا عجم او روم به په آخره زمانه کښ په دغه خلقو باندے غالب شی او د مسلمانانو حکومت به د هغه خانے نه ختم کړی او څنے وائی هغوی به مرتد شی نو زکوة به نۀ ورکوی. او څنے وائی د هغه خائے کافر چه کوم جزيه ورکوی هغه به د قوت په وجه جزيه نۀ ورکوی او دا چه نے کوم وئيلی دی چه تاسو څنګه وئ داسے به بيا شئ يعنی اسلام به بيا غريب شی او راغونډ به شی مدينے ته به راشی

الشُّهَدَاءِ عِنْدَ اللهِ وَيَفْتَتِحُ الثُّلُثُ لاَ يُفْتَنُونَ أَبَدًا فَيَفْتَتِحُونَ قُسْطَنْطِينِيَّةَ فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْغَنَائِمَ قَدْ عَلَّقُوا سُيُوفَهُمْ بِالزَّيْتُونِ إِذْ صَاحَ فِيهِمُ الشَّيْطَانُ إِنَّ الْمَسِيحَ قَدْ خَلَفَكُمْ فِي أَهْلِيكُمْ فَيَخْرُجُونَ وَذٰلِكَ بَاطِلٌ فَإِذَا جَاءُوا الشَّامَ خَرَجَ فَبَيْنَمَا هُمْ يَعِدُّونَ لِلْقِتَالِ يُسَوُّونَ الصُّفُوفَ إِذْ أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَيَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّهُمْ فَإِذَا رَآهُ عَدُوُّ اللهِ ذَابَ كَمَا يَذُوبُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ فَلَوْ تَرَكَهُ لاَنْذَابَ حَتّٰى يَهْلِكَ وَلٰكِنْ يَقْتُلُهُ اللهُ بِيَدِهِ فَيُرِيهِمْ دَمَهُ فِي حَرْبَتِهِ

تو به بچر ته هم الله نه قبلوی او په دریو کښ یو حصه به اووژلے شی. او هغه به د ټولو شهیدانو نه غوره وی د الله په نز او د دریمے حصے لښکر به فتح اوشی. هغه به چرته هم په فتنے او بلا کښ نه پریوځی. بیا به هغوی قسطنطنیه (یعنی استبول) فتح کړی (چه هغه د نصاراؤ په قبضه کښ راغلے وی) نو هغوی به د لوټ مالونه اوویشی. او خپلے تورے به د زیتون په اونو پورے زوړندے کړی په دے کښ به شیطان آواز اوکړی چه دجال ستاسو نه روستو ستاسو په خاندان کښ راغلے دے. نو مسلمانان به د هغه ځائے نه رااوځی حالانکه دا خبر به دروغ وی هر کله چه د شام ملك ته رااورسی نو دغه وخت به دجال رااوځی نو څهٔ وخت چه مسلمانان د جنګ دپاره راجمع شی صفونه به جوړ کړی او د مانځهٔ تیاری به کوی نو دغه وخت به حضرت عیسیٰؑ راکوز شی او امام به جوړ شی مونځ به ورکړی. بیا چه هر کله د الله دشمن دجال حضرت عیسیٰؑ لره اووینی نو (د یرے نه) به داسے ویلی شی لکه مالګه چه په اوبو کښ ویلی کیږی. او کچرے عیسیٰؑ هغهٔ لره هم دغسے پریږدی بیا به هم هغه پخپل ویلی شی او هلاك به شی. لیکن الله تعالی به هغهٔ لره د عیسیٰؑ په لاسونو باندے قتلوی. او د هغهٔ وینه به خلقو ته ښائی د عیسیٰؑ د نیزے په څوکه کښ[1].

[1] (الف) هر کله چه صفونه جوړ شی د دواړو لښکرونو نصاری به اووائی تاسو جدا شئ د هغه (خلقو مسلمانانو) نه همیشه د نصاراؤ دغه حال دے چه په مسلمانانو کښ دشمنی جوړ وی او خپل مقصد پرے کوی. پس د چا سره چه مخکښ ملګرتیا کوی نو هر کله چه هغه یواخی او قوت نے مات نو هغه هم په په دباؤ سره خپل ما تحت کړی الله تعالی فرمائی. يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ (ترجمه) اے مؤمنانو یهودو او نصاراؤ ته دوستان مهٔ وایئ. ځنے د دوی نه دوستا دی د ځنے نورو او څوك چه ستاسو نه د هغوی سره دوستی کوی هغه به د هغوی نه وی. پس چه کوم مسلمان د مسلمان ملګرتیا پریږدی او د کافر سره دوستی کوی هغه په نصِ قرانی سره کافر او مردود دے. افسوس دے چه مسلمان نهٔ د عقل کار اخلی او نهٔ د الله په کتاب باندے عمل کوی. خکه چه دوی ته ډیر خله د دے غلطئ تجربه شوے ده. او د کافرو د دوستی نتیجه ورته معلومه شوے ده خو بیا هم نهٔ منع کیږی

عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ الْقُرَشِيِّ عِنْدَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تَقُومُ السَّاعَةُ وَالرُّومُ أَكْثَرُ النَّاسِ فَقَالَ لَهُ عَمْرٌو أَبْصِرْ مَا تَقُولُ قَالَ أَقُولُ مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَئِنْ قُلْتَ ذَلِكَ إِنَّ فِيهِمْ لَخِصَالًا أَرْبَعًا إِنَّهُمْ لَأَحْلَمُ النَّاسِ عِنْدَ فِتْنَةٍ وَأَسْرَعُهُمْ إِفَاقَةً بَعْدَ مُصِيبَةٍ وَأَوْشَكُهُمْ كَرَّةً بَعْدَ فَرَّةٍ وَخَيْرُهُمْ لِمِسْكِينٍ وَيَتِيمٍ وَضَعِيفٍ وَخَامِسَةٌ حَسَنَةٌ جَمِيلَةٌ وَأَمْنَعُهُمْ مِنْ ظُلْمِ الْمُلُوكِ

عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ الْقُرَشِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تَقُومُ السَّاعَةُ وَالرُّومُ أَكْثَرُ النَّاسِ قَالَ فَبَلَغَ ذَلِكَ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ فَقَالَ مَا هَذِهِ الْأَحَادِيثُ الَّتِي تُذْكَرُ عَنْكَ أَنَّكَ تَقُولُهَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ الْمُسْتَوْرِدُ قُلْتُ الَّذِي سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د مستورد قرشی نه روایت دے وائی چه ما د عمرو بن عاص په مخکښ د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. قیامت به هغه وخت قائمیږی هر کله چه نصارئ د ټولو خلقو نه زیات شی (یعنی د هندوانو او مسلمانانو نه)، عمرو اووے گوره ته څهٔ وائے؟ مستورد اووے زهٔ هغه وایم څهٔ چه مے د رسول الله نه اوریدلی دی عمرو اووے کچرے ته وائے) نو ربښتیا دی، ځکه چه په نصاراؤ کښ څلور خصلتونه دی. هغوی د مصیبت په وخت برداشت کوی. د مصیبت نه پس د ټولو نه زر هوښیاریږی. او د تیښتے نه پس د ټولو نه مخکښ حمله کوی. او غوره دی په ټولو خلقو کښ د مسکین یتیم او کمزوری دپاره. او یو پنځم خصلت پکښ ډیر ښهٔ دے چه هغه د باشادهانو بادشاهانو ظلم لره منع کوی[1].

د مستورد قرشی نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. قیامت به هغه وخت قائمیږی هر کله چه نصرئ د ټولو خلقو نه زیات شی. دا خبر عمرو بن عاص ته اورسیدهٔ. هغه مستورد ته اووے دا څنګه حدیثونه دی. کوم چه خلق وائی چه ته ئے د رسول الله ﷺ نه روایت کوے. مستورد اووے زهٔ خو هغه وایم څهٔ چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. عمرو اووے کچرے ته دا وائے (نو صحیح ده) بیشکه نصرئ د ټولو خلقو

(ب) ددے حدیث نه معلومیږی چه قیامت ته نزدے به نصرئ د قسطنطنیه ښار اخلی. تر اوسه خونے لانهٔ دے اخستے خو آثار ئے ډیر نزدے معلومیږی او د سلطانِ روم سلطنت ډیر کمزورے شوے دے.

[1] او د هغوی باشاه رعیت نه تباه کوی. ځکه چه د قانون تابع دی ددغه خصلتونو په وجه نصرئ ډیر مخکښ شول او د هغوی تعداد په دنیا کښ ورځ په ورځ زیاتیږی. هغه اوس هم د مسلمانانو نه او د مشرکانو نه په شمار کښ زیات دی. او قیامت نه نزدے به نور هم زیات شی. اوس په دنیا کښ درے مذهبونو والاقابل اعتبار دی مسلمانان، نصرئ، مشرکین، باقی یهود او مجوس وغیره ډیر کم دی نهٔ د هغوی څهٔ حکموت شته

وَسَلَّمَ قَالَ فَقَالَ عَمْرٌو لَئِنْ قُلْتَ ذَلِكَ إِنَّهُمْ لَأَحْلَمُ النَّاسِ عِنْدَ فِتْنَةٍ وَأَجْبَرُ النَّاسِ عِنْدَ مُصِيبَةٍ وَخَيْرُ النَّاسِ لِمَسَاكِينِهِمْ وَضُعَفَائِهِمْ

نه د مصیبت په وخت زيات بوجهـ اوري. او د تولو نه زيات د مصيبت نه پس صحيح کيږي. او غوره دي په خلقو کښې د خپلو ضعيفانو او مسکينانو دپاره[1].

عَنْ يُسَيْرِ بْنِ جَابِرٍ قَالَ هَاجَتْ رِيحٌ حَمْرَاءُ بِالْكُوفَةِ فَجَاءَ رَجُلٌ لَيْسَ لَهُ هِجِّيرَى إِلَّا يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ جَاءَتِ السَّاعَةُ قَالَ فَقَعَدَ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَقَالَ إِنَّ السَّاعَةَ لَا تَقُومُ حَتَّى لَا يُقْسَمَ مِيرَاثٌ وَلَا يُفْرَحَ بِغَنِيمَةٍ ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ هَكَذَا وَنَحَّاهَا نَحْوَ الشَّأْمِ فَقَالَ عَدُوٌّ يَجْمَعُونَ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ وَيَجْمَعُ لَهُمْ أَهْلُ الْإِسْلَامِ قُلْتُ الرُّومَ تَعْنِي قَالَ نَعَمْ وَتَكُونُ عِنْدَ ذَاكُمُ الْقِتَالِ رَدَّةٌ شَدِيدَةٌ فَيَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً فَيَقْتَتِلُونَ حَتَّى يَحْجُزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ فَيَفِيءُ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ ثُمَّ يَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً فَيَقْتَتِلُونَ حَتَّى يَحْجُزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ فَيَفِيءُ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ ثُمَّ يَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا

د يسير بن جابر نه روايت دے وائي چه يو خل په کوفه کښې سره سيلئ راغله يو سړے راغلے چه د هغهٔ تکيه کلام دا وو. چه اے عبد الله بن مسعوده قيامت راغے. دد ے په اوريدو عبد الله بن مسعود چه تکيه ئے لګولے وه. کيناستو. هغوي اووے قيامت به نهٔ قائميږي تر دے پورے چه ميراث به نهٔ تقسيميږي او په مال غنيمت سړ هبه خوشحالي نهٔ وي (خکه چه هر کله څوك وارث پاتے نهٔ شي نو ميراث به څوك ويشي. او هر کله چه څوك د جنګ نه ژوندے پاتے نهٔ شي نو په غنيمت به څوك خوشحاله شي) بيائے په خپل لاس سره اشاره اوکړه د شام د ملك په طرف او اوئے وئيل دشمن به جمع شي د مسلمانانو سره د جنګيدو دپاره او مسلمانان به هم د هغوي سره د جنګيدو دپاره راجمع شي. ما اووے د دشمن نه ستاسو مراد نصرٰی دي. هغوي اووے آو. او هغه وخت به سخت جنګ شروع شي. مسلمانان به يو لښکر مخکښې اوليږي چه هغه به د مرګ دپاره ورمخکښې کيږي او بغير د غلبے نه به نهٔ واپس کيږي (يعني په دے اراده سره چه يا خو به په جنګ کښې مړهٔ شو يا به د فتح سره واپس شو) پس دواړه فرقے به جنګيږي تر دے پورے چه شپه به شي او دواړه طرفته فوجونه واپس شي. د چا به هم غلبه رانهٔ شي. او کوم لښکر چه د جنګ دپاره مخکښې تلے وي هغه به بالکل فنا شي (يعني هغه به تول قتل شي) بيا به په دويمه ورځ مسلمانان يو لښکر ور

[1] هر کله چه په نصراؤ کښې دا صفات دي. نو په مسلمانانو کښې دد ے نه زيات کيدل پکار دي. خکه چه مسلمانان چه حق دين باندے دي او د نصراؤ نه زيات د جنت طلبکار دي دد ے حديث نه مسلمانانو له سبق اخستل پکار دي او د غريبانو. يتيمانانو او مسکينانو خبر اخستل پکار دي او د مصيبت په وخت صبر او شکر او استقلال لازم دے

وا فَيَفِيءُ هٰؤُلَاءِ
وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ
إِلَيْهِم بَقِيَّةُ أَهْلِ
الدَّبَرَةَ عَلَيْهِم
يُرَى مِثْلُهَا وَإِمَّا
إِنَّ الطَّائِرَ لَيَمُرُّ
حَتّٰى يَخِرَّ مَيِّتًا
ائَةٍ فَلَا يَجِدُونَهُ
جِدُ فَبِأَيِّ غَنِيمَةٍ
تَاسَمُ فَبَيْنَمَا هُمْ
هُوَ أَكْبَرُ مِنْ ذٰلِكَ
جَّالَ قَدْ خَلَفَهُمْ
مَا فِي أَيْدِيهِمْ
ةَ فَوَارِسَ طَلِيعَةً
هِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي
مَاءَ آبَائِهِمْ وَأَلْوَانَ
عَلٰى ظَهْرِ الْأَرْضِ
وَارِسَ عَلٰى ظَهْرِ
بِي شَيْبَةَ فِي رِوَايَتِهِ

مخکښ کړي چه هغه به د شهادت یا د غلبې به نیت ور مخکښ شي او د مابنامه پورې جنګ به او کړي او د شپې به دواړه فوجونه واپس شي او چا ته به غلبه او نۀ شي. او کوم لښکر چه مخکښ تلې وي هغه به فنا شي. بیا په دریمه ورځ به مسلمانان یو بل لښکر وړاندې کړي د غلبې یا شهادت په نیت او د مابنامه پورې به جنګ او کړي او د دواړو طرفونو فوجونه به واپس شي د چا به غلبه او نۀ شي. او هغه لښکر به فنا شي. هر کله چه څلورمه ورځ شي نو څوموره مسلمانان چه باقي پاتې وي هغه به ورمخکښ شي. په دغه ورځ به الله تعالی کافرانو له شکست ورکړي. او داسې جنګ به اوشي چه داسې به نۀ څوك وینې او نۀ به چا لیدلې وي. تردې پورې چه مرغۍ به د هغوی دپاسه یا د هغوی د بدنونو دپاسه الوزي نو مخکښ به نۀ شي تلې مرې به او رالویږي به او په سلو کښې به یو سړے پاتې شي او نور به مړۀ شي. یعنې یو کم سل به مړۀ شي. په داسې حالت کښې به چا ته په لوټ سره خوشحالي حاصله شي او څوك به میراث تقسیموي. مسلمانان به په دغه حالت کښې وي چه د یو بل غټ آفت خبر به واوري یو آواز به اوشي چه دجال د روستو نه د هغوی کورونو ته راغلې دے. ددے خبر په اوریدو به هغوی هر څۀ د لاسونو نه اوغورځوي او روان به شي او لس سوارۀ به د اطلاع دپاره اولیږي (د دجال د خبر راوړو دپاره) رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: ما ته د هغۀ سورو او د هغوی دپلارانو نومونه راځي او د هغوی د اسونو د رنګونو نه خبر یم. هغوی به په ټوله زمکه کښې غوره سوارۀ وي په هغه ورځ یا به د بهترو سورونه وي په هغه ورځ [1].

چه هغه جنګ به د نوي قسم وي او د جنګ آلات به داسې تیز وي چه د چرچنړے د مرګ نه به هم پرے زر
بیتانو جنګ دے. د ګولو باران به وي.

عَنْ يُسَيْرِ بْنِ جَابِرٍ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ مَسْعُودٍ فَهَبَّتْ رِيحٌ حَمْرَاءُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِهِ وَحَدِيثُ ابْنِ عُلَيَّةَ أَتَمُّ وَأَشْبَعُ

يُسَير بن جابرؓ وئيلي دي چه زهٔ د ابن مسعودؓ سره ناست وم چه په دے كښې سره هوا راغله بيائے مخكښې د پورتني پشان حديث بيان كړو. او د ابن عليه حديث زيات مكمل دے.

عَنْ أُسَيْرِ بْنِ جَابِرٍ قَالَ كُنْتُ فِي بَيْتِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ وَالْبَيْتُ مَلْآنُ قَالَ فَهَاجَتْ رِيحٌ حَمْرَاءُ بِالْكُوفَةِ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ

د يُسَير بن جابر نه روايت دے . مونږ د عبدالله بن مسعودؓ په كور كښې وو او كور ډك وو. په دے كښې په كوفه كښې سره هوا اوچليده. بيا ئے بيان كړو حديث داسے څنګه چه پورته تير شو.

عَنْ نَافِعِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ قَالَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْمٌ مِنْ قِبَلِ الْمَغْرِبِ عَلَيْهِمْ ثِيَابُ الصُّوفِ فَوَافَقُوهُ عِنْدَ أَكَمَةٍ فَإِنَّهُمْ لَقِيَامٌ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ قَالَ فَقَالَتْ لِي نَفْسِي ائْتِهِمْ فَقُمْ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَهُ لَا يَغْتَالُونَهُ قَالَ ثُمَّ قُلْتُ لَعَلَّهُ نَجِيٌّ مَعَهُمْ فَأَتَيْتُهُمْ فَقُمْتُ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَهُ قَالَ فَحَفِظْتُ مِنْهُ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ أَعُدُّهُنَّ فِي يَدِي قَالَ تَغْزُونَ جَزِيرَةَ الْعَرَبِ فَيَفْتَحُهَا اللهُ ثُمَّ فَارِسَ فَيَفْتَحُهَا اللهُ ثُمَّ تَغْزُونَ الرُّومَ فَيَفْتَحُهَا اللهُ ثُمَّ تَغْزُونَ الدَّجَّالَ فَيَفْتَحُهُ اللهُ قَالَ فَقَالَ نَافِعٌ يَا جَابِرُ لَا نَرَى الدَّجَّالَ يَخْرُجُ حَتَّى تُفْتَحَ الرُّومُ

د نافع بن عتبه نه روايت دے وائي چه مونږ د رسول اللهﷺ سره په يو جهاد كښې ملګرى وو. نو حضرتﷺ له د مغرب د طرفنه څهٔ خلق راغلے چه د ويختو جامے ئے اغوستے وے او د يو خټ پخوا كښې د رسول اللهﷺ ناست وو. ما په زړهٔ كښې خپل خان ته اووے ته لاړ شه او دد ے خلقو او د حضرتﷺ په مخكښې اودريږه. داسے نهٔ وي چه دوى په دهوكه سره حضرتﷺ اووژني. بيا ما په زړهٔ كښې اووے چه كيدے شي حضرتﷺ ددوى سره څهٔ پټے خبرے كوي (او خما ورتلل د حضرتﷺ خوښ نشي) بيا زهٔ لاړم او د هغه خلقو او د حضرتﷺ په مينځ كښې اودريدم. نو ما هغه وخت د حضرتﷺ نه څلور خبرے يادے كړے. چه هغې لره حضرتﷺ خما په لاس باندے شمارلے حضرتﷺ اوفرمائيل رومبے خو به تاسو د عربو په جزيره كښې (د كافرو سره) جهاد كوئ. الله تعالى به هغه فتح كړي بيا به د فارس سره جهاد كوئ الله تعالى به هغه فتح كړي بيا به د نصراؤ سره جنګيږئ او د روم والاؤ سره. الله تعالى به هغه هم فتح كړي (دا حديث د حضرتﷺ لويه معجزه ده) نافع اووے اے جابر بن سمرهؓ زمونږ دا خيال دے چه دجال به دد ے نه پس را اوځي. هر كله چه د روم ملك فتح شي.

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ الْغِفَارِيِّ قَالَ اطَّلَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ فَقَالَ مَا تَذَاكَرُونَ قَالُوا نَذْكُرُ السَّاعَةَ قَالَ إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ فَذَكَرَ الدُّخَانَ وَالدَّجَّالَ وَالدَّابَّةَ وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَنُزُولَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَثَلَاثَةَ خُسُوفٍ خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ

د حذيفه بن أسيد غفاري نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ راغے په مونږ باندے او مونږ خبرے کولے. حضرت ﷺ اوفرمائيل: تاسو څۀ خبرے کولے. مونږ اووے د قيامت ذکر مو کولو. حضرت ﷺ اوفرمائيل . قيامت به نۀ قائميږي د کومے پورے چه لس نخښے د هغے نه مخکښ ليدلے شوي نۀ وي. بيائے ذکر اوکړو د لوگي او د دجّال او د زمکے د ځناورو ، او د نمر د راختو د مغرب نه او د حضرت عيسیٰ عليه السلام د راکوزيدو او د ياجوج ماجوج د راوتلو. او د درے ځايونو خسف کيدل يعني په زمله کښ ننوتل يو په مشرق کښ دويم په مغرب کښ او دريم په جزيره عرب کښ. او ددے ټولو نشانونه پس به يو أور پيدا شي چه خلقو لره به د يمن نه اوباسي. او په شړلو شړلو به ئے د محشر په طرف بوځي. (محشر د شام زمکه ده)[1].

عَنْ أَبِي سَرِيحَةَ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ قَالَ كَانَ

د ابو سريحه حُذيفه بن أسيد نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ په

---

[1] (الف) پس ذکر ئے اوکړو د لوګے نو وائي ددے حديث نه د هغه سړي تائيد کيږي چه هغه وائي مراد د لوګے نه هغه لوګے دے چه په هغے سره به د کافرانو دم اودريږي او په مسلمانانو به د زکام پشان حالت راشي. او دا لوګے لا تر اوسه نۀ دے ظاهر شوے قيامت ته نزدے به ظاهريږي او پورته ددے بيان تير شو او د ابن مسعودؓ انکار هم تير شو. هغوي وائي دا هغه لوګے دے کوم چه په قريشو باندے قحط راغلے وو او په اسمان او د هغے په مينځ کښ لوګے ښکاريدو. او يو جماعت د علماؤ د ابن مسعودؓ سره اتفاق کړے دے ليکن حذيفهؓ او ابن عمرؓ او حسن ددے خلاف دي. حذيفهؓ د رسول الله ﷺ نه روايت کړے دے چه دا لوګے به په زمکه کښ د څلوېښتو ورځو پورے وي. او احتمال دے چه مراد دوه لوګي وي. انتهٰی.

(ب) او ذکر ئے کړے دے د ځناور دا هغه ځناور دے چه بيان ئے په دے ايت کريمه کښ دے وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِنَ الْأَرْضِ مفسرين وائي چه دا ځناور به ډير لوئے وي او صفا غريبه اوچوي د هغے نه به راووځي. او د ابن عمر او ابن عاص نه نقل دے چه دا هغه جساسه ده چه ذکر ئے د دجال په حديث کښ دي (نووي). په تحفة الاخيار کښ دي چه په مکه کښ به د زمکے نه شپيته گزه اوږد يو ځناور راووځي چه سر د هغے به د غوټي پشان لو سترگے د هغے به د سوَر پشان ، او غوږونه د هاتهي پشان او ښکر د غرسنی بزے پشان لو سينه به ئے د زمري او ټښي به ئے د بزے او لکئ به ئے د گډ لو رنگ به ئے لکه د شرمرغ او خپے به ئے لکه د اوښ پشان وي. د هغۀ سره به د موسیٰ عليه السلام همسا لو د حضرت سليمان عليه السلام گوټئ هم وي. مسلمان او کافر به د بوئيه ولو نه معلومه وي لو وائي به چه ددۀ دين رښتونے دے لو نور ټول دينونه دروغژن دي.

النَّبِيُّ ﷺ فِي غُرْفَةٍ وَنَحْنُ أَسْفَلَ مِنْهُ فَاطَّلَعَ إِلَيْنَا فَقَالَ مَا تَذْكُرُونَ قُلْنَا السَّاعَةَ قَالَ إِنَّ السَّاعَةَ لَا تَكُونُ حَتَّى تَكُونَ عَشْرُ آيَاتٍ خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَخَسْفٌ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَالدُّخَانُ وَالدَّجَّالُ وَدَابَّةُ الْأَرْضِ وَيَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَطُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَنَارٌ تَخْرُجُ مِنْ قُعْرَةِ عَدَنٍ تَرْحَلُ النَّاسَ قَالَ شُعْبَةُ وَحَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ رُفَيْعٍ عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ عَنْ أَبِي سَرِيحَةَ مِثْلَ ذَلِكَ لَا يَذْكُرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ أَحَدُهُمَا فِي الْعَاشِرَةِ نُزُولُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ﷺ وَقَالَ الْآخَرُ وَرِيحٌ تُلْقِي النَّاسَ فِي الْبَحْرِ

يوه بالاخانه کښې وو او مونږ لاندې ناست وو نو حضرت ﷺ مونږ پسې سر راښکته کړو او ونې فرمائيل تاسو د څه ذکر کوئ؛ مونږ عرض اوکړو چه د قيامت ذکر کوؤ. حضرت ﷺ اوفرمائيل: بيشکه قيامت نه شي قائميدې ترڅو پورې چه لس نخښې ښکاره شوې نه وي. يو خسف (د زمکې ننوتل) په مشرق کښې. دويم خسف په مغرب کښې او دريم خسف د عربو په جزيره کښې. څلورم لوګې پنځم دجال شپږم د زمکې ځناور. اووم ياجوج او ماجوج اتم د نمر راختل د مغرب نه او نهم يو اُور چه د عدن د غارې نه به راووځي او خلقو لره به په شړلو باندې بوځي. په دې روايت کښې د لسمې نخښې ذکر نشته دې. په بل روايت کښې لسمه نخښه د حضرت عيسیٰ رکوزيدل دي او په بل روايت کښې يوه هوا چه خلقو لره به په سمندر کښې اوغورځوي.

عَنْ أَبِي سَرِيحَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غُرْفَةٍ وَنَحْنُ تَحْتَهَا نَتَحَدَّثُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِهِ قَالَ شُعْبَةُ وَأَحْسِبُهُ قَالَ تَنْزِلُ مَعَهُمْ إِذَا نَزَلُوا وَتَقِيلُ مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا قَالَ شُعْبَةُ وَحَدَّثَنِي رَجُلٌ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ عَنْ أَبِي سَرِيحَةَ وَلَمْ يَرْفَعْهُ قَالَ أَحَدُ هَذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ نُزُولُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَقَالَ الْآخَرُ رِيحٌ تُلْقِيهِمْ فِي الْبَحْرِ

د ابوسريحه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په يوه بالاخانه کښې وو او مونږ د هغې نه لاندې په خپل مينځ کښې خبرې کولې. او د پورتنۍ حديث پشان ئې پوره حديث بيان کړو. شعبه اووې چه ځما خيال دې چه حضرت ﷺ اوفرمائيل چه هغه اور به د خلقو سره وي چرته چه هغوی کوز شي نو اُور به هم کوز شي او هر کله چه هغوی د غرمې اوده کيږي نو اُور به هم اودريږي. شعبه اووئيل چه يو سړي ما ته دا حديث بيان کړو د ابوالطفيل په روايت سره د ابوسريحه نه او دې حديث لره ئې مرفوع نه کړو. په دوی کښې يو سړي (آخري نخښه) عيسیٰ بن مريم لره اوښودله. دويم دا تيزه هوا چه دوی لره به سمندر ته اوغورځوي، اوښودله

عَنْ أَبِي سَرِيحَةَ قَالَ كُنَّا نَتَحَدَّثُ فَأَشْرَفَ

د ابوسريحه نه روايت دې چه مونږ خبرې کولې چه مونږ رسول

عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيْثِ مُعَاذٍ وَابْنِ جَعْفَرٍ و قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ الْحَكَمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ بْنِ رُفَيْعٍ عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ عَنْ أَبِي سَرِيحَةَ بِنَحْوِهِ قَالَ وَالْعَاشِرَةُ نُزُوْلُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ قَالَ شُعْبَةُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ عَبْدُ الْعَزِيْزِ

الله ﷺ «د بالاخانې نه اوليدو » مخکښې مضمون دے » د معاذ د حديث پشان. او ابن ابى جعفر د حديث پشان. او ابن مثنى وئيلى دى چه مونږ ته حديث بيان کړو ابوالنعمان حکم بن عبد الله چه حديث بيان کړے دے مونږ ته شعبه هغوى ته عبد العزيز هغوى ته ابوالطفيل هغوى ابوسريحه هم دغسې. او وئيلى دى لسمه نخښه د عيسٰى بن مريم د راکوزيدو. شعبه وئيلى دى چه عبد العزيز دے حديث لره مرفوع کړے نه دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى تَخْرُجَ نَارٌ مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ تُضِيْءُ أَعْنَاقَ الْإِبِلِ بِبُصْرٰى

د ابوهريرة رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. قيامت به نۀ قائميږى تر دے پورے چه رااوخى به يو أوْر د حجاز د ملك نه چه روښانه کوى به د بصرے د اوښانو څټونو لره «يعنى د هغې رڼا به دومره تيزه وى چه د عربو نه د شام پورے به رسيږى حجاز د مکے او مدينے ملك دے او بصرٰى د يو ښار نوم دے»[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبْلُغُ الْمَسَاكِنُ إِهَابَ أَوْ يَهَابَ قَالَ زُهَيْرٌ قُلْتُ لِسُهَيْلٍ فَكَمْ ذٰلِكَ مِنَ الْمَدِيْنَةِ قَالَ كَذَا وَكَذَا مِيْلًا

د ابوهريرة رضی الله عنه نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى «قيامت ته نژدے» به د مدينے کورونه اهاب يا يهاب ته اورسى. زهير وائى چه ما سهيل ته اووے چه اهاب د مدينے نه په څومره فاصله باندے دے. هغوى اووے د دومره ميلو په فاصله باندے دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُسْتَقْبِلُ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روايت دے چه هغوى د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه د حضرت مخ مبارك د يورپ په طرف وو اوفرمائيل ئے خبردار

---

[1] قاضى عياض رحمه الله وئيلى دى دا هغه أوْر دے چه د حشر دپاره به خلقو لره بوځى. او کيدے شى دا دوه أوْره وى يا د هغې شروع د يمن نه وى او قوت د هغې په حجاز کښې. نووى وائى د حديث نه دا نۀ ده وتلے چه دا د حشر أوْر دے. بلکه دا د قيامت نخښه ده. او دا أوْر زمونږ په زمانه کښې رااووتو په ٦٥٤ھ کښې او ډير لوئے أوْر وو د مدينے د مشرقى غاړے نه د حرّه نه بيرته او د هغې خبر ما ته هغه خلقو راکړے دے چه هغه وخت په مدينه کښې وو. د مدينے په تاريخ کښې ذکر دى چه اول څو ورځے په مدينه کښې غټه زلزله وه. د خلقو خيال شو چه قيامت راغے بيا يو طرفته زمکه اوچوده د هغې نه اوچت أوْر رااُووَتۀ خلوېښت ورځے قائم وو. اوسپنه او ګټه به هغې أوْر سيزله مګر وابنۀ به ئے نۀ سيزل د د سوونو ميلو پورے د هغې رڼا وه آخر د سلطنتِ عباسيه په مخکښې دا قصه تيره شوه. د شپږ سوو کالونه زيات اوشو خو څنګه چه حضرت ﷺ فرمائيلى وو هم هغه شان اوشو. دا معجزه شوه د رسول الله ﷺ. «تحفة الاخيار»

الْمَشْرِقِ يَقُولُ أَلاَ إِنَّ الْفِتْنَةَ هَاهُنَا أَلاَ إِنَّ الْفِتْنَةَ هَاهُنَا مِنْ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ

شي فتنه دلته ده. د چرته نه چه به د شیطان قرن رااوخي (د یورپ په طرف د ربیعه او مضر قومونو کلي وو او هغوی د اسلام ډیر خلاف وو. د شیطان د قرن نه مراد د هغه دواړه زلفي یا دواړه ښکر دی ځکه چه هر کله نمر راخیژي نو شیطان خپل سر په هغه باندے کیږدي دد ے دپاره چه د سجده کونکو سجده د ځه ته واقع شي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ لَيْسَتِ السَّنَةُ بِأَنْ لاَ تُمْطَرُوا وَلَكِنِ السَّنَةُ أَنْ تُمْطَرُوا وَتُمْطَرُوا وَلاَ تُنْبِتُ الأَرْضُ شَيْئًا

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي. قحط دا نه دے چه باران به نه کیږي بلکه قحط دادے چه باران به وریږي وریږي او زمکه به څه نه زرغونه وي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عِنْدَ بَابِ حَفْصَةَ فَقَالَ بِيَدِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ الْفِتْنَةُ هَاهُنَا مِنْ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ قَالَهَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا وَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ فِي رِوَايَتِهِ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ بَابِ عَائِشَةَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ د مؤمنانو د مور حفصے په دروازه باندے اودریدو. او د مشرق په طرف ئے اشاره اوکړه او اوئے فرمائیل. فساد ددغه طرف نه دے د کوم ځائے نه چه به د شیطان قرن رااوخي. دوه ځله ئے اوفرمائیل یا درے ځله او د عبد الله بن سعید په روایت کښں دي چه حضرت ﷺ د حضرت عائشے په دروازه باندے ولاړ وو.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ مُسْتَقْبِلُ الْمَشْرِقِ إِنَّ الْفِتْنَةَ هَاهُنَا إِنَّ الْفِتْنَةَ هَاهُنَا إِنَّ الْفِتْنَةَ هَاهُنَا مِنْ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي په هغه وخت کښں چه د حضرت ﷺ مخ د مشرق په طرف وو چه خبردار شي فتنه دلته ده. خبردار شي چه بے شکه فتنه دلته ده، خبردار شي چه بیشکه فتنه دلته ده د کوم ځائے نه به چه د شیطان ښکر رااوخي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْتِ عَائِشَةَ فَقَالَ رَأْسُ الْكُفْرِ مِنْ هَاهُنَا مِنْ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ يَعْنِي الْمَشْرِقَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائي چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي او حضرت ﷺ په خپل لاس سره مشرق طرفته اشاره کوله چه حضرت ﷺ اوفرمائیل آو فتنه دلته ده آو فتنه دلته ده. درے ځله حضرت ﷺ اوفرمائیل د کوم ځائے نه چه د شیطان ښکر رااوخي یعني

د مشرق نه

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ يَقُوْلُ يَا أَهْلَ الْعِرَاقِ مَا أَسْأَلَكُمْ عَنِ الصَّغِيرَةِ وَأَرْكَبَكُمْ لِلْكَبِيرَةِ سَمِعْتُ أَبِي عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ الْفِتْنَةَ تَجِيءُ مِنْ هَاهُنَا وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ مِنْ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنَا الشَّيْطَانِ وَأَنْتُمْ يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ وَإِنَّمَا قَتَلَ مُوسَى الَّذِي قَتَلَ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ خَطَأً فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا قَالَ أَحْمَدُ بْنُ عُمَرَ فِي رِوَايَتِهِ عَنْ سَالِمٍ لَمْ يَقُلْ سَمِعْتُ سَالِمًا

د سالم بن عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے . هغوی به وئیل چه اے عراقیانو زهٔ ستاسو نه د وړے گناه تپوس نهٔ کوم او څوک چه کبیره گناه کوی خو ما اوریدلی دی د خپل پلار عبد الله بن عمرؓ نه چه هغوی به وئیل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. فتنه به د دے طرفنه راځی او اشاره ئے اوکړه د مشرق طرفته په خپل لاس مبارک سره د چرته نه چه د شیطان دواړه ښکر را اوخی او تاسو د یو بل څټ وهئ (حالانکه د مسلمان قتلول څومره لوئے گناه ده) او حضرت موسیٰؑ چه د فرعون د قوم یو سړے وژلے وو هغه ئے په خطا وژلے وو (نهٔ په نیت د قتل ځکه چه په سُوك سړے نهٔ مری) په دے باندے الله تعالی اوفرمائیل هغه ته چه تا یو قتل اوکړو پس مونږ تاله خلاصے درکړو د غم نه او مونږ امتحان اوکړو پتا باندے څنګه چه مونږ ازمائیلے وے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتَّى تَضْطَرِبَ أَلَيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ حَوْلَ ذِي الْخَلَصَةِ وَكَانَتْ صَنَمًا تَعْبُدُهَا دَوْسٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ بِتَبَالَةَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه قیامت به نهٔ قائمیږی تر دے پورے چه د دوس ښځے کناتی میلاؤ کړی د ذوالخلصه نه چاپیره (یعنی هغوی به طواف کوی د هغے نه چاپیره) ذی الخلصه یو بت وو چه د دوس خلقو به د جاهلیت په زمانه کښ تباله کښ د هغے عبادت کولو[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا يَذْهَبُ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ حَتَّى تُعْبَدَ اللَّاتُ وَالْعُزَّى فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنْ كُنْتُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. شپه او ورځ به نهٔ ختمیږی تر هغے پورے چه د لات او عزّیٰ عبادت بیا شروع نهٔ شی (د دواړه د جاهلیت د زمانے بتان وو) ما عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ زهٔ خو دا

[1] معلومه شوه چه د عربو ځنے خلق به بیا مشرکان شی. په بل حدیث کښ دی چه ځما د اُمت ځنے قبیلے به د بتانو عبادت شروع کړی.

لَأَظُنُّ حِينَ أَنْزَلَ اللهُ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدٰى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ أَنَّ ذٰلِكَ تَامًّا قَالَ إِنَّهُ سَيَكُونُ مِنْ ذٰلِكَ مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ رِيحًا طَيِّبَةً فَتَوَفّٰى كُلَّ مَنْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَيَبْقٰى مَنْ لَا خَيْرَ فِيهِ فَيَرْجِعُونَ إِلٰى دِينِ آبَائِهِمْ

ګڼړم هر کله چه الله تعالی دا اٰیت نازل کړو چه الله هغه ذات دے چه هغه خپل رسولؑ د هدایت او دین حق سره یعني رښتوني دین سره رالیږلے دے. ددے دپاره چه دے لره غالب کړي په ټولو دینونو باندے اګر که مشرکان خلق ئے بدګڼړي. چه دا وعده پوره کیدونکے ده (او سوا د اسلام نه به بل یو دین هم په دنیا کښ غالب پاتے نهٔ شي) حضرت ﷺ اوفرمائیل. داسے به کیږي د کومے پورے چه الله تعالی ته منظوره وي. بیا به الله تعالی یوه پاکیزه هوا رااولیږي چه ږ هغے په وجه به هر مؤمن مړ شي. تر دے پورے چه د چا چه هم په زړهٔ کښ د اُوړي ددانے برابر ایمان وي هغه به مړ شي. او هغه خلق به پاتے شي چه هغوی نیکي کونکي نهٔ وي. بیا به هغه د خپلو (مشرك) پلار او نیکهٔ دین ته واپس شي.

عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د عبد الحمید بن جعفر نه په دے اسناد سره هم دغسے روایت دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي قیامت به نهٔ قائمیږي تر دے پورے چه یو سړے به د بل سړي په قبر باندے تیریږي او اوبه وائي چه کاش زهٔ ددهٔ په ځائے په قبر کښ وے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتّٰى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ فَيَتَمَرَّغُ عَلَيْهِ وَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مَكَانَ صَاحِبِ هٰذَا الْقَبْرِ وَلَيْسَ بِهِ الدِّينُ إِلَّا الْبَلَاءُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه قسم مے دِ وي په هغه ذات د چا په لاس کښ چه ځما روح دے. دنیا به نهٔ فنا کیږي تر هغے پورے چه یو سړے به په یو قبر تیریږي نو ځملي به په هغه قبر باندے او اوبه وائي افسوس چه زهٔ ددے قبر والا په ځائے وے او نهٔ وے په دے دین مګر بلا.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي قسم

[1] کاش چه زهٔ ددهٔ په ځائے په قبر کښ وے نو په دے خرابو او فتنو کښ به نهٔ پریوتم داسے فسادونه او خرابیانے او بے دیني به قیامت ته نزدے خورے شي چه د ایمان خاوند به پکښ د ژوندون نه بیزاره شي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَدْرِى الْقَاتِلُ فِي أَيِّ شَيْءٍ قَتَلَ وَلَا يَدْرِى الْمَقْتُولُ عَلَى أَيِّ شَيْءٍ قُتِلَ

دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه خما روح دے په خلقو به یوه داسے زمانه راشي چه قاتل ته به دا پته نه لګي چه ما ولے قتل اوکړو او مقتول ته به دا پته نه وي چه زه ولے قتل شوم (داسے تیرے او فساد به وي چه خلق به په ناحقه قتلولے شي)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَأْتِيَ عَلَى النَّاسِ يَوْمٌ لَا يَدْرِي الْقَاتِلُ فِيمَ قَتَلَ وَلَا الْمَقْتُولُ فِيمَ قُتِلَ فَقِيلَ كَيْفَ يَكُونُ ذَلِكَ قَالَ الْهَرْجُ الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ أَبَانَ قَالَ هُوَ يَزِيدُ بْنُ كَيْسَانَ عَنْ أَبِي إِسْمَعِيلَ لَمْ يَذْكُرِ الْأَسْلَمِيَّ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه خما روح دے. دنیا به نه ختميږي تردے پورے چه په خلقو باندے به یوه ورځ داسے راشي چه قاتل ته به پته نه وي چه دۀ دا قتل ولے اوکړو؟ او مقتول ته به دا پته نه وي چه زۀ ولے او وژلے شوم؟ خلقو اووے دا به څنګه وي حضرتﷺ اوفرمائيل قتل وغارت به وي قاتل او مقتول دواړه به جهنمي دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي کعبه به خرابوي د حبشو يو سړے ورو ورو پنډو والا (مراد ترےد ابي سينيا کافر دي چه نصارئ دي يا د وسط حبش بت پرست په آخره زمانه کښې به د هغوي غلبه وي. او مسلمانان به ددنيا نه پورته شي هر کله چه هغه مردود حبشي داسے کار کوي)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي. خانه کعبه به بربادوي د حبشو يو سړے ورو ورو پنډو والا.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ يُخَرِّبُ بَيْتَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي ورو ورو پنډو والايو حبشي به برباده کړي د الله رب العزت کور لره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ رَجُلٌ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي. قيامت به نه قائميږي تردے پورے چه يو سړے د قحطان (يوه

مِنْ قَحْطَانَ يَسُوقُ النَّاسَ بِعَصَاهُ

قبیله ده، به راووځی چه خلقو له به په خپله همسا سره شړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَذْهَبُ الْأَيَّامُ وَاللَّيَالِي حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْجَهْجَاهُ قَالَ مُسْلِم هُمْ أَرْبَعَةُ إِخْوَةٍ شَرِيكٌ وَعُبَيْدُ اللهِ وَعُمَيْرٌ وَعَبْدُ الْكَبِيرِ بَنُو عَبْدِ الْمَجِيدِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه ورځ او شپه به نۀ ختمیږی تردے پورے چه یو سړے به بادشاه شی چه هغۀ ته به جهجاه وئیلے شی. مسلم وئیلی دی هغه ځلور رونړه دی. شریك او عبید الله او عمیر او عبد الکبیر خامن د عبد الحمید.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی قیامت به نۀ قائمیږی تردے پورې چه تاسو جنګ اوکړئ د داسے خلقو سره چه د هغوی مخونه به د ډهالونو پشان وی. او قیامت به نۀ قائمیږی تردے پورے چه تاسو به اوجنګیږئ د داسے خلقو سره چه د هغوی پیزار به د ویختو وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی قیامت به نۀ قائمیږی تردے پورے چه تاسو به اوجنګیږئ د داسے خلقو سره چه د هغوی مخونه به د ډهالونو پشان وی تهونه تهونه یو ځائے شوی یعنی ځاربه مخونه ګول ګول مراد ترے د ترکو خلق دی چه چین ته نژدے د تاتار او سیدونکی دی دا پیشن ګوئی پوره شوه مسلمان د هغوی سره اوجنګیدۀ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلَكُمْ أُمَّةٌ يَنْتَعِلُونَ الشَّعَرَ وُجُوهُهُمْ مِثْلُ الْمَجَانِّ الْمُطْرَقَةِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. قیامت به نۀ قائمیږی تردے پورے چه ستاسو سره به جنګ کوی هغه خلق چه د هغوی پیزار به د ویختو وی او مخ به ئے د تهبند ډهالونو پشان وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى

د ابوهریرهؓ نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی قیامت به نۀ قائمیږی تردے پورے چه تاسو به اوجنګیږئ د داسے خلقو سره چه

تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا صِغَارَ الْأَعْيُنِ ذُلْفَ الْآنُفِ

د هغوی پیزار به د ویختو وی او قیامت به نهٔ قائمیږی تردے پورے چه تاسو به د داسې خلقو سره اوجنګیږئ چه د هغوی سترګے به وړے، پوزے به ئے څرے او پریخے وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ التُّرْكَ قَوْمًا وُجُوهُهُمْ كَالْمَجَانِّ الْمُطْرَقَةِ يَلْبَسُونَ الشَّعَرَ وَيَمْشُونَ فِي الشَّعَرِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی قیامت به نهٔ قائمیږی تردے پورے چه مسلمان به د تُرکو سره جنګیږی چه د هغوی مخونه به د ډهال پشان تهونه وی. د هغوی جامے به د ویختو وی، او هغوی به روانٔ وی په ویختو کښ (یعنی پیزار به ئے هم د ویختو وی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُقَاتِلُونَ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ حُمْرُ الْوُجُوهِ صِغَارُ الْأَعْيُنِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی تاسو به قیامت ته نږدے د داسے خلقو سره او جنګیږئ چه د هغوی پیزار به د ویختو وی د هغوی مخونه به لکه د تهو تهونه ډهالونو دی. مخونه د هغوی سره دی او سترګے ئے وړے دی.

عَنْ أَبِي نَضْرَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ فَقَالَ يُوشِكُ أَهْلُ الْعِرَاقِ أَنْ لَا يُجْبَى إِلَيْهِمْ قَفِيزٌ وَلَا دِرْهَمٌ قُلْنَا مِنْ أَيْنَ ذَاكَ قَالَ مِنْ قِبَلِ الْعَجَمِ يَمْنَعُونَ ذَاكَ ثُمَّ قَالَ يُوشِكُ أَهْلُ الشَّأْمِ أَنْ لَا يُجْبَى إِلَيْهِمْ دِينَارٌ وَلَا مُدْيٌ قُلْنَا مِنْ أَيْنَ ذَاكَ قَالَ مِنْ قِبَلِ الرُّومِ ثُمَّ سَكَتَ هُنَيَّةً ثُمَّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُونُ فِي آخِرِ أُمَّتِي خَلِيفَةٌ يَحْثِي الْمَالَ حَثْيًا لَا يَعُدُّهُ عَدَدًا قَالَ قُلْتُ لِأَبِي نَضْرَةَ وَأَبِي الْعَلَاءِ أَتَرَيَانِ

د ابونضره نه روایت دے وائی چه مونږ د جابر بن عبد اللهؓ سره وو. هغوی اووے نږدے ده چه د عراقیانو قفیز او درم رانهٔ شی مونږ اووے په څهٔ سبب سره هغوی اووے د عجم خلق به هغے لره منع کوی. بیائے اووے نږدے ده چه شام والاؤ ته دینار او مدی رانهٔ شی (مدی یو پیمانه ده دغه شان قفیز هم) مونږ اووے په څهٔ سبب سره هغوی اووے د روم خلق به ئے منع کوی بیا د څهٔ ساعت چپ پاتے کیدونه پس ئے اووے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خما په آخر امت کښ به یو خلیفه وی چه هغه به ډکے ډکے لپے د مال ورکوی (یعنی روپۍ او اشرفۍ خلقو ته) او شماره وی به ئے نه جریر وائی ما د ابونضره او ابوالعلاء نه تپوس اوکړو. آیا تاسو ته پته ده چه دا خلیفه عمر بن عبد العزیز دے. هغوی اووے نهٔ (دا امام مهدیؒ دے چه د

أَنَّهُ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَقَالَا لَا

امت په آخره زمانه کښې به پیدا کیږي عمر بن عبد العزیز خو په اوائل کښې وو)

عَنِ الْجُرَيْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د جریري نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مِنْ خُلَفَائِكُمْ خَلِيفَةٌ يَحْثُو الْمَالَ حَثْيًا لَا يَعُدُّهُ عَدَدًا وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ حُجْرٍ يَحْثِي الْمَالَ

د ابوسعید ؓ نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي ستاسو د خلیفه ګانو نه به یو خلیفه داسې وي چه هغه به د مال ډکے ډکے لپې ورکوي هغې له به نه شماري

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ خَلِيفَةٌ يَقْسِمُ الْمَالَ وَلَا يَعُدُّهُ

د ابوسعید ؓ او جابر بن عبد الله دواړو نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي په آخره زمانه کښې به یو خلیفه وي چه مال به ویشي او شمار به ئے نه کوي

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

ابوسعید ؓ د نبي ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَمَّارٍ حِينَ جَعَلَ يَحْفِرُ الْخَنْدَقَ وَجَعَلَ يَمْسَحُ رَأْسَهُ وَيَقُولُ بُؤْسَ ابْنِ سُمَيَّةَ تَقْتُلُكَ فِئَةٌ بَاغِيَةٌ

د ابوسعید خدري ؓ نه روایت دے وائي چه بیان کړے دے ما ته هغه سړي چه خما نه غوره دے چه رسول الله ﷺ عمار بن یاسر ته اوفرمائیل هرکله چه هغه خندق کنستلو د هغهٔ سر ئے پاکولو اوفرمائیل ئے اے د سمیه خویه پتا به لوئے مصیبت راشي. تا لره به د باغیانو جماعت قتل کوي[1]

عَنْ أَبِي مَسْلَمَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ النَّضْرِ أَخْبَرَنِي مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّي أَبُو قَتَادَةَ وَفِي حَدِيثِ خَالِدِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ أُرَاهُ يَعْنِي أَبَا قَتَادَةَ وَفِي حَدِيثِ خَالِدٍ وَيَقُولُ وَيْسَ أَوْ يَقُولُ يَا وَيْسَ ابْنِ سُمَيَّةَ

د ابومسلمه ؓ نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے مګر د نضر ؓ په حدیث کښې دي چه هغهٔ وئیلي دي چه خبر راکړے دے ما ته هغهٔ چه خما نه بهتر دے یعني ابوقتاده ؓ، د خالد بن حارث ؓ په حدیث کښې دي هغهٔ اووے خما خیال دے هغه ابوقتاده دے. او د خالد په حدیث کښې (د بوس په ځائے) ویس دے. (د ویس معنی خرابي او مصیبت دے).

[1] د عمار ؓ د مور نوم سمیه وو عمار ؓ د حضرت علي ؓ سره وو د صفین په جنګ کښې او هم په دغه جنګ کښې هغه شهید شو دد ے حدیث نه معلومه شوه چه حضرت علي ؓ خلیفه برحق وو او د معاویه جماعت خاطي او باغي وو

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَمَّارٍ تَقْتُلُكَ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ	د ام المؤمنین حضرت سلمه رضی الله عنها نه روایت دے وائی چه حضرت ﷺ عمار رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه تا به یو باغی جماعت قتلوی (باغی د امام نافرمانه ته وائی)
عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ	ام سلمه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ د پورتنی حدیث پشان روایت کړے دے.
عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقْتُلُ عَمَّارًا الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ	د ام المؤمنین ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. عمار رضی الله عنه له به باغی جماعت قتل کوی.
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُهْلِكُ أُمَّتِي هٰذَا الْحَيُّ مِنْ قُرَيْشٍ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ لَوْ أَنَّ النَّاسَ اعْتَزَلُوهُمْ	د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه هلاکوی به خلقو لره دا خاندان د قریشو نه (مراد د بنی أمیه خاندان دے) صحابؤ اووے تاسو مونږ ته څۀ حکم کوئ؛ حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے خلق د هغوی نه جدا شی نو غوره ده[1].
عَنْ شُعْبَةَ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ فِي مَعْنَاهُ	د شعبه په دے اسناد سره دد دے هم معنی روایت دے.
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ مَاتَ كِسْرَى فَلَا كِسْرَى بَعْدَهُ وَإِذَا هَلَكَ قَيْصَرُ فَلَا قَيْصَرَ بَعْدَهُ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتُنْفَقَنَّ كُنُوزُهُمَا فِي سَبِيلِ اللهِ	د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کسرٰی (د ایران بادشاه) مړ شو پس نشته دے کسرٰی روستو ددۀ نه او هر کله چه قیصر مړ شی (د روم بادشاه) پس نشته دے قیصر روستو د هغۀ نه (او دا دواړه ملکونه به مسلمانان فتح کوی) قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه زما روح دے چه تاسو به ددغے دواړو خزانے د الله په لار کښې خرچ کوئ.
عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ سُفْيَانَ وَمَعْنَى حَدِيثِهِ	د زهری نه د سفیان په اسناد سره د سفیان د حدیث هم معنی حدیث مروی دے.
عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا	د همام بن منبه نه روایت دے چه ابوهریره رضی الله عنه مونږ ته د رسول الله ﷺ یو څو احادیث بیان کړل د هغو نه یو دادے چه رسول الله ﷺ

[1] کچرے خلق د هغوی نه جدا شی او د هغوی ملګرتیا او نۀ کړی نو غوره ده. خو داسے او نۀ شوه او خلقو د بنی أمیه سره ملګری شو او هغوی هغه ظلم اوکړو چه د الله پناه امام حسین نے شهید کړو. مدینه منوره نے تباه کړه په سوونو صحابه د یزید د لښکر دلاسه په مدینه کښې شهیدان شو معاذ الله

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ هَلَكَ كِسْرَى ثُمَّ لَا يَكُونُ كِسْرَى بَعْدَهُ وَقَيْصَرُ لَيَهْلِكَنَّ ثُمَّ لَا يَكُونُ قَيْصَرُ بَعْدَهُ وَلَتُقْسَمَنَّ كُنُوزُهُمَا فِي سَبِيلِ اللهِ

اوفرمائیل کسرٰی هلاك شو. اوس دده نه روستو به بل کسرٰی نهٔ وی. او قیصر به نژدے هلاکیږی د هغهٔ نه روستو به بل قیصر نهٔ وی.او تاسو خلق بهضرور د هغهٔ خزانے د الله په لار کښې تقسیموئ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا هَلَكَ كِسْرَى فَلَا كِسْرَى بَعْدَهُ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ سَوَاءً

د جابر بن سمرهٔ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی . هر کله چه کسرٰی مړ شی نو د هغهٔ نه روستو به څوك کسرٰی نهٔ وی. بیا مخکښې د ابوهریرهٔ د حدیث پشان حدیث ئے بیان کړو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَتَفْتَحَنَّ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ أَوْ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ كَنْزَ آلِ كِسْرَى الَّذِي فِي الْأَبْيَضِ قَالَ قُتَيْبَةُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَلَمْ يَشُكَّ

د جابر بن سمرهٔ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی وو. خامخا به د مسلمانانو یا د مؤمنانو ډله (راوی ته شك دے) د کسرٰی خزانه کھولاوه وی. کومه چه په سپین محل کښې ده. د قتیبه په روایت کښې د مسلمانانو لفظ دے بغیر د شك نه.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ

د جابر بن سمرهٔ نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه د ابوعوانه د حدیث پشان.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمِعْتُمْ بِمَدِينَةٍ جَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَرِّ وَجَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَغْزُوَهَا سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ بَنِي إِسْحَاقَ فَإِذَا جَاءُوهَا نَزَلُوا فَلَمْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحٍ وَلَمْ يَرْمُوا بِسَهْمٍ قَالُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ فَيَسْقُطُ أَحَدُ جَانِبَيْهَا قَالَ ثَوْرٌ لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ الَّذِي فِي الْبَحْرِ ثُمَّ يَقُولُوا الثَّانِيَةَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ فَيَسْقُطُ جَانِبُهَا الْآخَرُ ثُمَّ

د ابوهریرهٔ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاسو اوریدلی دی د داسے ښار چه د هغے یو طرفته اوچه ده او بل طرفته سمندر دے. صحابو اووے آو یا رسول الله! مونږ اوریدلی دی. (یعنی قسطنطنیه ده) حضرت ﷺ اوفرمائیل چه قیامت به نهٔ قائمیږی تر هغے پورے چه اوجنګیږی د هغه ښار سره اویازره د حضرت اسحاقؑ اولاد. پس هر کله چه دے ښار ته راشی نو کوز به شی خو په وسلے سره به نهٔ جنګیږی او نهٔ به غشی اولی. لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ به وائی نو د هغے یو طرف کوم چه په دریاب کښې دے هغه به اوغورځیږی. بیا به په دویم ځل إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ اووائی نو د هغے دویم طرف به

يَقُولُوا الثَّالِثَةَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَيُفَرَّجُ لَهُمْ فَيَدْخُلُوهَا فَيَغْنَمُوا فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْمَغَانِمَ إِذْ جَاءَهُمُ الصَّرِيخُ فَقَالَ إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَرَجَ فَيَتْرُكُونَ كُلَّ شَيْءٍ وَيَرْجِعُونَ

اوغور خیږي. بیا په دریم خل لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَر اووائي نو د هر طرفنه به بیرته شي. پس هغه به ښار ته ننوځي او لوټ به کوي هر کله چه د لوټ مال ویشي نو په دے کښې به ناخاپه یو کس په چغو راشي او اوبه وائي چه دجال راااووتو نو هغوی به هر څیز پریږدي. او د دجال په طرف به واپس شي[1]

عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ الدِّيلِيِّ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ

د ثور بن زید دیلمی نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَتُقَاتِلُنَّ الْيَهُودَ فَلَتَقْتُلُنَّهُمْ حَتَّى يَقُولَ الْحَجَرُ يَا مُسْلِمُ هَذَا يَهُودِيٌّ فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي تاسو به جنګیږئ د یهودو سره او وژنئ به هغوی لره تر دے پورے چه ګټه به اووائي اے مسلمانه دا یهودي دے مړ ئے کړه (دا به قیامت ته نژدے وي)

عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي حَدِيثِهِ هَذَا يَهُودِيٌّ وَرَائِي

د عبید الله نه په دے اسناد سره روایت دے او هغهٔ په خپل حدیث کښې وئیلي دي چه ګټه به وائي دا ځما په پناه کښې یو یهودي دے.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَقْتَتِلُونَ أَنْتُمْ وَيَهُودُ حَتَّى يَقُولَ الْحَجَرُ يَا مُسْلِمُ هَذَا يَهُودِيٌّ وَرَائِي تَعَالَ فَاقْتُلْهُ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي. ستاسو سره به یهودیان جنګ کوي نو تاسو به په هغوی غالب شئ تر دے پورے چه ګټه به وائي اے مسلمانه دا یهودي ځما د لاندے پټ دے نو دے قتل کړه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ حَتَّى يَخْتَبِئَ الْيَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشَّجَرِ فَيَقُولُ الْحَجَرُ أَوِ الشَّجَرُ يَا مُسْلِمُ يَا عَبْدَ اللَّهِ

د ابو هریره نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي قیامت به نه قائمیږي تر دے پورے چه مسلمانان به د یهودو سره جنګیږي پس مسلمانان به هغوی لره قتل کړي. تر دے پورے چه یهودیان به د ګټو یا د اونو په پناه کښې پټیږي. نو هغه ګټه یا اونه به وائي چه اے مسلمانه اے د الله بنده دا ځما شاته یو یهودي دے دیخوا راشه او دے مړ

[1] په دے روایت کښې د بن اسحق لفظ دے. حالانکه عرب بني اسمٰعیل دي. او ظاهره ده چه دغه خلق د بني اسماعیلو نه دي. دد دے حدیث نه معلومیږي چه بغیر د وسلے نه روان شے هر طرفته چه ځي د کلمے په برکت به فتح وي. او پورته حدیث تیر شو چه هلته به لوئے جنګ وي نو مطلب دا دے چه د ښار پناه به د کلمے په زور اوغورځیږي.



هٰذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ إِلَّا الْغَرْقَدَ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُودِ

کرممگر د غرقد لونه به نه وائي. هغه يوه ازغو والاونه ده چه د بيت المقدس په طرف ډيره وي، هغه د يهودو اونه ده.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ كَذَّابِينَ وَزَادَ فِي حَدِيثِ أَبِي الْأَحْوَصِ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ آنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ نَعَمْ

د جابر بن سمرهؓ نه روايت دے وائي چه ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلی ئے وو. د قيامت نه مخکښې به دروغژن پيدا شي. د ابوالاحوص په روايت کښې دومره زياته ده چه ما د جابر بن سمرهؓ نه تپوس اوکړو چه تا د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی هغهٔ اووے آو.

عَنْ سِمَاكٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ قَالَ سِمَاكٌ وَسَمِعْتُ أَخِي يَقُولُ قَالَ جَابِرٌ فَاحْذَرُوهُمْ

د سماك نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے.سماك وئيلی دی چه ما د خپل رور نه اوريدلی دی چه جابرؓ به وئيل چه ددوی نه بچ شئ (داسے نهٔ وی چه د هغے دروغژنو په دهوکه کښې راشئ)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ قَرِيبٌ مِنْ ثَلَاثِينَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی قيامت به نهٔ راځي ترڅو پورے چه هغے ته نزدے ديرش دروغژن دجاله به پيدا کيږي (د دجال معنٰی مکار فريبي) هر يو به دا وائي چه زهٔ د الله رسول يم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ يَنْبَعِثَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ د پورتني حديث پشان اوفرمايهٔ مگر په دے کښې دی چه ترڅو پورے چه پا به سی.

بَابُ ذِكْرِ ابْنِ صَيَّادٍ

باب : د ابن صيّاد بيان

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَرَرْنَا بِصِبْيَانٍ فِيهِمُ ابْنُ صَيَّادٍ فَفَرَّ الصِّبْيَانُ وَجَلَسَ ابْنُ صَيَّادٍ فَكَأَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَرِهَ ذٰلِكَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرِبَتْ يَدَاكَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ فَقَالَ لَا

د عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے وائي چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په څهٔ معشومانو باندے تيريدو چه په هغے کښې ابن صياد هم وو. ټول هلکان (د حضرت ﷺ په ليدو سره) اوتښتيدل او ابن صيّاد کيناستهٔ رسول الله ﷺ ته بد ښکاره شو. (څکه چه حضرت ﷺ ته گمان وو خو يقين ئے نهٔ وو چه دا دجال دے) حضرت ﷺ اوفرمائيل ستا په لاسونو د خاوره اولگی تهٔ گواهی

بَلْ تَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ذَرْنِي يَا رَسُولَ اللهِ حَتَّى أَقْتُلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ يَكُنْ الَّذِي تَرَى فَلَنْ تَسْتَطِيعَ قَتْلَهُ

ورکوے چه زۀ د الله رسول یم هغه اووے نا. بلکه ته گواهی ورکوے چه زۀ د الله رسول یم حضرت عمرؓ اووے یا رسول اللهؐ ما ورته پریده چه قتل ئے کرم. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے دے هغه وی کوم چه ته خیال کوے (یعنی دجال وی) نو ته دی نۀ شے وژلے (او کچرے دجال نۀ وی نو ددۀ د مرگ نه څۀ فائده ده)

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا نَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَرَّ بِابْنِ صَيَّادٍ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا فَقَالَ دُخٌّ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْسَأْ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللهِ دَعْنِي فَأَضْرِبَ عُنُقَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ فَإِنْ يَكُنْ الَّذِي تَخَافُ لَنْ تَسْتَطِيعَ قَتْلَهُ

د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول اللهﷺ سره روان وو چه په دے کښې ابن صیاد میلاؤ شو رسول اللهﷺ ورته اوفرمائیل ما په زړۀ کښې ستا دپاره یوه خبره پټه کړے ده. (حضرتﷺ ددے ایت تصور اوکړو: فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ) ابن صیاد اووے دُخ دے ستا په زړۀ کښې (یعنی لوگے) رسول اللهﷺ ورته اوفرمائیل خۀ مردوده ته به د خپل انداز نه چرته هم اوچت نۀ شی (یعنی شیطان او پیریانو او نجومیانو ته ئۀ دومره قدرے ښودلے شے چه د تولے جملے نه یو نیم لفظ اَلتِه پلته جوړ کړی لکه تا چه په پوره ایت کښې صرف د دخان لفظ اوښودول بس ستا دومره قدرے قدرت دے په خلاف د پیغمبرانوؑ چه هغوی ته الله تعالی پوره او صفا خبره ښودلے ده) حضرت عمرؓ اووے یا رسول اللهؐ ما ورته پریږده چه څټ ئے اووهم حضرتﷺ اوفرمائیل کچرے دے هغه به د چا نه چه ته یرېږدے (یعنی دجال نو ته ئے نۀ شے وژلے)[1].

[1] نوویؒ وائی ابن صیاد یا بن صاید د هغه نوم صفا دے علماء وائی چه ددے قصه مشکله ده او امر ئے مشتبه دے چه دا دجال وو یا د جال بل دے او په دے کښې څۀ شك نشته چه د ابن صیاد د دجالانو نه یو دجال وو. علماء وائی د ظاهر حدیث نه دا معلومیږی چه د ابن صیاد په باب کښې حضرتﷺ ته د دجال صفتونه په وحی سره معلوم شوی وو او په ابن صیاد کښې ځنے صفتونه موجود وو ددے وجے نه د حضرتﷺ گمان وو او یقین ئے نۀ وو چه کیدے شی دا دجال وی. او حضرتﷺ هغه قتل نۀ کړو حالانکه هغه د نبوت دعوه اوکړه ددے وجے نه چه هغه نابالغه وو. یا په دغه ورځو کښې د یهودیانو سره صلح شوے وه او هغه هم یهودی وو. پس اختلاف دے چه ابن صیاد چرته مړ شو. په ابوداؤد کښې یو روایت دے چه هغه د حرّه په ورځ غائب شوے دے او جابر به قسم خوړلو چه هغه دجال دے دغه شان حضرت عمر د رسول اللهﷺ په مخکښې دے لو هغوی نۀ منع کوو. (والله اعلم)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ لَقِيَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ فَقَالَ هُوَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آمَنْتُ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ مَا تَرَى قَالَ أَرَى عَرْشًا عَلَى الْمَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَى عَرْشَ إِبْلِيسَ عَلَى الْبَحْرِ وَمَا تَرَى قَالَ أَرَى صَادِقَيْنِ وَكَاذِبًا أَوْ كَاذِبَيْنِ وَصَادِقًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُبِسَ عَلَيْهِ دَعُوهُ

د ابوسعید رضی الله عنه نه روایت دے د ابن صیاد سره رسول الله ﷺ او ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه میلاؤ شو د مدینے په بعضو لارو کښې. رسول الله ﷺ ترے تپوس اوکړو آیا ته گواهی ورکوے ددے خبرے چه زهٔ د الله رسول یم ابن صیاد اووے ته گواهی ورکوے ددے خبرے چه زهٔ د الله تعالی رسول یم حضرت ﷺ اوفرمائیل ما ایمان راوړے دے په الله باندے او د هغهٔ په فرښتو باندے او د هغهٔ په کتابونو باندے او وایه چه تا ته څهٔ ښکاری؟ هغهٔ اووے زهٔ یو تخت وینم په اوبو باندے. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه خو د ابلیس تخت دے په سمندر باندے. او نور څهٔ وینے؟ هغهٔ اووے چه یو دوه رښتونی خما خواله راځی او یو دروغژن یا دوه دروغژن او یو رښتونے. حضرت ورته اوفرمائیل پریږده هغهٔ لره هغهٔ ته شك دے په خپل باب کښې (چه هغه رښتونے دے یا نهٔ)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَقِيَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَ صَائِدٍ وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَابْنُ صَائِدٍ مَعَ الْغِلْمَانِ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ الْجُرَيْرِيِّ

د جریر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د ابن صیّاد سره میلاؤ شو او د حضرت ﷺ سره ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه هم وو. او ابن صاید د نورو هلکانو سره وو. بیا ئے (مخکښې) د جریری د حدیث پشان حدیث بیان کړو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ صَحِبْتُ ابْنَ صَائِدٍ إِلَى مَكَّةَ فَقَالَ لِي أَمَا قَدْ لَقِيتُ مِنَ النَّاسِ يَزْعُمُونَ أَنِّي الدَّجَّالُ أَلَسْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهُ لَا يُولَدُ لَهُ قَالَ قُلْتُ بَلَى قَالَ فَقَدْ وُلِدَ لِي أَوَلَيْسَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ د ابن صیاد سره د مکے پورے لاړم. هغهٔ ما ته اووے خلق ما ته څهٔ وائی چه زهٔ دجال یم ولے تا د رسول الله ﷺ نه نهٔ دی اوریدلی چه فرمائیلی ئے وو د دجال به اولاد نهٔ وی او خما خو اولاد دے. ولے تا د رسول الله ﷺ نه نهٔ دی اوریدلی چه فرمائیلی ئے وو هغه به مکے او مدینے ته نهٔ راځی. ما اووے او اوریدلی مے دی. ابن صیاد اووے زهٔ خو په مدینه کښې پیدا شوے یم او اوس مکے ته ځم ابوسعید رضی الله عنه وائی بیا په آخر کښې ابن صیاد اووے البته په الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ وَلَا مَكَّةَ قُلْتُ بَلَى قَالَ فَقَدْ وُلِدْتُ بِالْمَدِينَةِ وَهٰذَا أَنَا أُرِيدُ مَكَّةَ قَالَ ثُمَّ قَالَ لِي فِي آخِرِ قَوْلِهِ أَمَا وَاللّٰهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ مَوْلِدَهُ وَمَكَانَهُ وَأَيْنَ هُوَ قَالَ فَلَبَسَنِي

قسم دے چه ما ته پته ده چه دجال کوم ځائے پیدا شوے دے او اوس چرته دے. ابوسعید وائی نو زۀ ئے په شك کښې لوغور خولم (ددے روستنئ خبرے د کولو سره څکه چه ددے نه معلومیږی چه ددۀ د دجال سره څۀ نۀ څۀ تعلق ضرور شته ورنه د هغۀ مقام څنګه داته معلوم شو. نووی وائی د ابن صیاد دا دلیلونه چه د هغۀ اولاد شته او هغه په مدینه کښې پیدا شوے دے او مکے ته ځی څۀ کافی نۀ دی ځکه چه دا صفات د دجال حضرت ﷺ د هغه وخت بنودلی دی هر کله چه هغه د فساد کولو دپاره په دنیا کښې راوځی. نۀ د رومبی وخت

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ صَائِدٍ وَأَخَذَتْنِي مِنْهُ ذَمَامَةٌ هٰذَا عَذَرْتُ النَّاسَ مَا لِي وَلَكُمْ يَا أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ أَلَمْ يَقُلْ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ يَهُودِيٌّ وَقَدْ أَسْلَمْتُ قَالَ وَلَا يُولَدُ لَهُ وَقَدْ وُلِدَ لِي وَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَيْهِ مَكَّةَ وَقَدْ حَجَجْتُ قَالَ فَمَا زَالَ حَتَّى كَادَ أَنْ يَأْخُذَ فِيَّ قَوْلُهُ قَالَ فَقَالَ لَهُ أَمَا وَاللّٰهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ الْآنَ حَيْثُ هُوَ وَأَعْرِفُ أَبَاهُ وَأُمَّهُ قَالَ وَقِيلَ لَهُ أَيَسُرُّكَ أَنَّكَ ذَاكَ الرَّجُلُ قَالَ فَقَالَ لَوْ عُرِضَ عَلَيَّ مَا كَرِهْتُ

د ابوسعید خدری نه روایت دے وائی چه ابن صیاد خما سره خبرے اوکړے نو ماله شرم راغے (د هغۀ په بدو ونیلو کښې هغۀ اووے ما د خلقو په مخکښې عذر اوکړو او دا مے اووے چه څۀ شوی دی تاسو لره اے د محمد ﷺ صحابو ولے رسول الله ﷺ نۀ دی فرمائیلی چه دجال به یهودی وی او زۀ خو مسلمان یم او حضرت ﷺ فرمائیلی دی چه د دجال به اولاد نۀ وی خما خو اولاد شته او حضرت ﷺ فرمائیلی دی چه الله تعالی مکه حرامه کړے ده په دجال باندے او ما خو حج کړے دے. ابوسعید وائی هغه برابر خبرے کولے نو نږدے وه چه ما هغۀ لره رښتونے ګڼلے وے او د هغۀ خبرے مے زړۀ ته پریوتے وے. بیائے اووے البته خما قسم دے چه زۀ خبر یم چه اوس دجال چرته دے. او د هغۀ پلار او مور هم پیژنم خلقو ابن صیاد ته اووے نۀ به خوشحاله ئے کچرے ته دجال شے. هغۀ اووے کچرے ما لره دجال جوړولے شی نو زۀ ئے بد نۀ ګڼم.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا حُجَّاجًا أَوْ عُمَّارًا وَمَعَنَا ابْنُ صَائِدٍ قَالَ

د ابوسعید خدری نه روایت دے وائی چه مونږ حج یا عمرے ته رااووتو او زمونږ سره ابن صیاد هم وو. پس په یو منزل کښې مونږه



فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فَتَفَرَّقَ النَّاسُ وَبَقِيتُ أَنَا وَهُوَ
فَاسْتَوْحَشْتُ مِنْهُ وَحْشَةً شَدِيدَةً مِمَّا
يُقَالُ عَلَيْهِ قَالَ وَجَاءَ بِمَتَاعِهِ فَوَضَعَهُ مَعَ
مَتَاعِي فَقُلْتُ إِنَّ الْحَرَّ شَدِيدٌ فَلَوْ وَضَعْتَهُ
تَحْتَ تِلْكَ الشَّجَرَةِ قَالَ فَفَعَلَ قَالَ
فَرُفِعَتْ لَنَا غَنَمٌ فَانْطَلَقَ فَجَاءَ بِعُسٍّ فَقَالَ
اشْرَبْ أَبَا سَعِيدٍ فَقُلْتُ إِنَّ الْحَرَّ شَدِيدٌ
وَاللَّبَنُ حَارٌّ مَا بِي إِلَّا أَنِّي أَكْرَهُ أَنْ أَشْرَبَ عَنْ
يَدِهِ أَوْ قَالَ آخُذَ عَنْ يَدِهِ فَقَالَ أَبَا سَعِيدٍ
لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آخُذَ حَبْلًا فَأُعَلِّقَهُ بِشَجَرَةٍ
ثُمَّ أَخْتَنِقَ مِمَّا يَقُولُ لِي النَّاسُ يَا أَبَا سَعِيدٍ
مَنْ خَفِيَ عَلَيْهِ حَدِيثُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا خَفِيَ عَلَيْكُمْ مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ
أَلَسْتَ مِنْ أَعْلَمِ النَّاسِ بِحَدِيثِ رَسُولِ
اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَيْسَ قَدْ قَالَ
رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ كَافِرٌ
وَأَنَا مُسْلِمٌ أَوَلَيْسَ قَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ عَقِيمٌ لَا يُولَدُ لَهُ وَقَدْ
تَرَكْتُ وَلَدِي بِالْمَدِينَةِ أَوَلَيْسَ قَدْ قَالَ
رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ
الْمَدِينَةَ وَلَا مَكَّةَ وَقَدْ أَقْبَلْتُ مِنَ الْمَدِينَةِ
وَأَنَا أُرِيدُ مَكَّةَ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ حَتَّى
كِدْتُ أَنْ أَعْذِرَهُ ثُمَّ قَالَ أَمَا وَاللهِ إِنِّي

دد ے دپاره کوز شو خلق اخوا دیخوا لاړل او زۀ او ابن صیاد دواړه پاتې شو. ما ته د هغۀ نه سخت وحشت وو دد ے وجې نه چه خلقو به د هغۀ په حق کښې دا وینا کوله چه (هغه دجال د ے) ابن صاید خپل اسباب راوړو او راغې خما د اسباب سره ئې کیښودۀ (په ما نوره زیاته یره راغله) ما اوو ے ګرمي زیاته ده که ته دا خپل اسباب د هغه اونې لاندې کیږد ے نو غوره ده. هغه هم دغسې اوکړل. بیا مونږ ته بزې بنکاره شولې. ابن صاید لاړو او پئ ئې ترے راوړل او اوئې وئیل ابوسعیده پئ څښې. ما اوو ے ګرمي ډیره ده او پئ هم ګرم دی بله هیڅ وجه نۀ وه چه زۀ پئ نۀ څښم صرف دغه وجه چه ما ته د هغۀ د لاس نه څښل بد معلومیدۀ. ابن صاید اوو ے اے ابوسعیده! ما اراده کړ ے ده چه یو رسئ واخلم او په اونه کښې ئې روړنده کړم او خپل ځان پهانسي کړم د هغه خبرو د وجې نه چه خلق خما په حق کښې وائي. اے ابوسعیده! د رسول الله ﷺ حدیث دومره د چا نه پټ دی خومره چه ستاسو انصارو خلقو نه پټ دی ولې تاسو د ټولو خلقو نه زیات د رسول الله ﷺ په حدیثو نه پوهیږئ. ولې حضرت ﷺ دا نۀ دی فرمائیلې دی چه دجال به کافر وی او زۀ خو مسلمان یم. ولې حضرت ﷺ دا نۀ دی فرمائیلې چه دجال به بې اولاده وی او خما اولاد په مدینه کښې موجود د ے. ولې حضرت ﷺ دا نۀ دی فرمائیلې چه دجال به مکې او مدینې ته نۀ ځي او زۀ د مدینې نه را روان یم او مکې ته ځم. ابوسعید ؓ وائي (هغه داسې خبرې اوکړ ے) چه زۀ نژد ے وه چه د هغه طرفدار شو ے و ے (او د خلقو خبر ے مې د هغۀ په حق کښې دروغ ګنړلې و ے) بیائې اوو ے البته په الله قسم د ے چه زۀ دجال پیژنم او د هغۀ د پیدائش د مقام نه خبر یم او په د ے هم پوهه

لَأَعْرِفُهُ وَأَعْرِفُ مَوْلِدَهُ وَأَيْنَ هُوَ الْآنَ قَالَ قُلْتُ لَهُ تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ

یم چه اوس هغه چرته دے ما هغۀ ته اووے خرابی د دی ستا په روځ باندے (یعنی دا تا څۀ اووے بیا ما ته ستا په نسبت شبه شوه)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِابْنِ صَائِدٍ مَا تُرْبَةُ الْجَنَّةِ قَالَ دَرْمَكَةٌ بَيْضَاءُ مِسْكٌ يَا أَبَا الْقَاسِمِ قَالَ صَدَقْتَ

د ابوسعید خدری نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د ابن صیاد نه تپوس اوکړو چه د جنت خاوره څنګه ده؟ هغۀ اووے د سپینو مشکو پشان خوشبوداره او باریکه ده اے ابوالقاسمه! حضرت ﷺ اوفرمائیل. تا رښتیا اووے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ ابْنَ صَيَّادٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تُرْبَةِ الْجَنَّةِ فَقَالَ دَرْمَكَةٌ بَيْضَاءُ مِسْكٌ خَالِصٌ

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه ابن صیاد د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه د جنت خاوره څنګه ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل باریکه د سپینو مشکو پشان خوشبوداره ده.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ رَأَيْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَحْلِفُ بِاللهِ أَنَّ ابْنَ صَائِدٍ الدَّجَّالُ فَقُلْتُ أَتَحْلِفُ بِاللهِ قَالَ إِنِّي سَمِعْتُ عُمَرَ يَحْلِفُ عَلَى ذٰلِكَ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ فَلَمْ يُنْكِرْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د محمد بن منکدر نه روایت دے وائی چه ما جابر بن عبد الله اولیدۀ چه قسم ئے اوخوړو چه ابن صائد دجال دے. ما اووے آیا تا قسم اوخوړو. هغوی اووے ما حضرت عمر اولیدو چه قسم خوړو د رسول الله ﷺ په مخکښں په دے خبره باندے او هغوی دد ے نه انکار او نۀ کړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَخْبَرَهُ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ انْطَلَقَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ حَتَّى وَجَدَهُ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ عِنْدَ أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ وَقَدْ قَارَبَ ابْنُ صَيَّادٍ يَوْمَئِذٍ الْحُلُمَ فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِابْنِ صَيَّادٍ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ فَنَظَرَ إِلَيْهِ ابْنُ صَيَّادٍ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه حضرت عمر د رسول الله ﷺ سره په څو خلقو کښں د ابن صیاد خوا له لاړو. نو هغه مونږه د هلکانو سره په لوبو کولو اولیدو د بنی مغاله په خواه کښں. په دغه ورځو کښں ابن صیاد ځوانئ ته نږدے وو. هغه خبر نۀ وو ترد ے پورے چه رسول الله ﷺ د هغۀ په شا باندے خپل مبارك لاس اووهو. بیا حضرت ﷺ دهغۀ نه تپوس اوکړو. تۀ ګواهی ورکوے دد ے خبرے چه په مکه کښں زۀ د الله رسول یم. ابن صیاد د حضرت ﷺ په طرف اوکتل او اوئے وئیل چه زۀ ګواهی ورکوم چه تۀ د اُمی خلقو رسول ئے (اُمّی وائی بے تعلیمه ته) بیا ابن صیاد رسول الله ﷺ ته اووے. تۀ

فقال أشهد أنك رسول الأميين فقال ابن صياد لرسول الله صلى الله عليه وسلم أتشهد أني رسول الله فرفصه رسول الله صلى الله عليه وسلم وقال آمنت بالله وبرسله ثم قال له رسول الله صلى الله عليه وسلم ماذا ترى قال ابن صياد يأتيني صادق وكاذب فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم خلط عليك الأمر ثم قال له رسول الله صلى الله عليه وسلم إني قد خبأت لك خبيئا فقال ابن صياد هو الدخ فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم اخسأ فلن تعدو قدرك فقال عمر بن الخطاب ذرني يا رسول الله أضرب عنقه فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم إن يكنه فلن تسلط عليه وإن لم يكنه فلا خير لك في قتله وقال سالم بن عبد الله سمعت عبد الله بن عمر يقول انطلق بعد ذلك رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبي بن كعب الأنصاري إلى النخل التي فيها ابن صياد حتى إذا دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم النخل طفق يتقي بجذوع النخل وهو يختل أن يسمع من ابن صياد شيئا قبل أن يراه ابن صياد فرآه

ګواهي ورکوے دد ے خبرے چه زۀ د الله رسول یم. رسول الله ﷺ دد ے خبرے څۀ جواب ورنۀ کړو یانے هغه تۀ د مسلمانیدو درخواست اونۀ کړو. (ولے چه حضرت ﷺ خفه شو د هغۀ په اسلام سره او په یو روایت کښې فَرَفَصَه دے په صاد مهمله سره یعنی حضرت ﷺ هغۀ لره په لته نے اووهو) او اونے فرمائیل ما ایمان راوړے دے په الله باندے او د هغۀ په رسولانو باندے. بیا رسول الله ﷺ د هغۀ نه تپوس اوکړو چه تا ته څۀ لیدلے شی. هغۀ اووے ما ته کله ربښتونے لیدلے شی او کله دروغژن رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل ستا کار ګډ وډ شوے دے (یعنی مخلوط په حق او باطل دواړو سره) بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل ما ستا نه د تپوس دپاره یوه خبره په زړۀ کښې پټه کړےده. ابن صیاد اووے هغه دُخ دے (یعنی لوګے) رسول الله ﷺ اوفرمائیل ذلیله شے تۀ د خپل طاقت نه کله سوا کیدے شے. حضرت عمرؓ اووے ما پریږده یا رسول الله چه ددۀ څټ اووهم. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے دے هغه وی (یعنی دجال) نو تۀ دے نۀ شے وژلے او کچرے هغه نۀ وی نو تا لره ددۀ وژل غوره نۀ دی. سالم بن عبد اللهؒ وائی ما د عبد الله بن عمرؓ نه اوریدلی دی چه دد ے نه پس رسول الله ﷺ او اُبیّ بن کعب هغه باغ ته لاړل چرته چه ابن صیاد اوسیدۀ. هر کله چه حضرت ﷺ باغ ته ننوتو نو د کهجورو د اونو په خواه پورے پټیدۀ. د حضرت ﷺ مطلب دا وو چه ابن صیاد له دهوکه ورکړی او د هغۀ څۀ خبرے واوری دد ے نه مخکښې چه ابن صیاد هغوئ اووینی. نو رسول الله ﷺ ابن صیاد اولیدو چه ملاست وو په یوه بستره باندے او یو کمبل نے اغوستے وو څۀ رو رو غونډے لګیا وو. د هغۀ مور رسول الله ﷺ اولیدۀ چه د

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى فِرَاشٍ فِي قَطِيفَةٍ لَهُ فِيهَا زَمْزَمَةٌ فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيَّادٍ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ فَقَالَتْ لِابْنِ صَيَّادٍ يَا صَافِ وَهُوَ اسْمُ ابْنِ صَيَّادٍ هَذَا مُحَمَّدٌ فَثَارَ ابْنُ صَيَّادٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ قَالَ سَالِمٌ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ فَأَثْنَى عَلَى اللهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ ذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنِّي لَأُنْذِرُكُمُوهُ مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَهُ قَوْمَهُ لَقَدْ أَنْذَرَهُ نُوحٌ قَوْمَهُ وَلَكِنْ أَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ تَعَلَّمُوا أَنَّهُ أَعْوَرُ وَأَنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لَيْسَ بِأَعْوَرَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيُّ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ حَذَّرَ النَّاسَ الدَّجَّالَ إِنَّهُ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ يَقْرَؤُهُ مَنْ كَرِهَ عَمَلَهُ أَوْ يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَقَالَ تَعَلَّمُوا أَنَّهُ لَنْ يَرَى أَحَدٌ مِنْكُمْ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ حَتَّى يَمُوتَ

کهجورونه شاته چپ ولاړ وو. هغې ابن صیاد ته چغې کړے اے صافه! او صاف نوم وو د ابن صیاد. دا محمد رالورسیدو ددے په اوریدو ابن صیاد پاڅیدو ا واؤدریدۀ. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کاش تا دے هم دغسے پریخودے وے (نو مونږ به ددۀ خبرے بنۀ اوریدلے وے نو معلومه شوے به وه چه هغه کاهن دے یا ساحر) سالم وائی چه عبد الله بن عمرؓ وئیلی دی چه بیا رسول الله ﷺ په خلقو کښې اودریدو او د الله تعریف ئے اوکړو څنګه چه د هغۀ سره ښائی. بیا ئے د دجال ذکر اوکړو او اوئے فرمائیل زۀ تاسو د هغۀ نه یروم او یونبی داسے نۀ دے تیر شوے چه هغه خپل قوم د دجال نه یرولے نۀ وی. تردے پورے چه حضرت نوحؑ هم (چه د هغۀ زمانه ډیره مخکښې وه) خپل قوم یرولے وو د هغۀ نه لیکن زۀ تاسو ته داسے یوه خبره ښایم چه یو نبی خپل قوم ته نۀ ده ښودلے. تاسو پوهه شئ چه هغه به کانړا وی او ستاسو الله برکت والا اوچت شان والا کانړا نۀ دے. (معاذ الله کانړا والے یو عیب دے او الله د هر عیب نه پاك دے) ابن شهاب وائی ما ته عمر بن ثابت بیان کړے دے هغوی ته د رسول الله ﷺ څنو صحابؤ بیان کړے دے چه په کومه ورځ رسول الله ﷺ خلقو لره د دجال نه یرول نو دائے ورته اوفرمائیل چه د هغۀ د دواړو سترګو په مینځ کښې به کافر لیکلے شوے وی (یعنی حقیقتًا ك او ف او را دا حروف به لیکلی وی یا د هغۀ د مخ نه به کفر او شرارت ظاهر وی) هغه به لولی هغه بنده چه د هغۀ کارونو ته بد وائی یا هغه به هر مؤمن لولی. او حضرت ﷺ فرمائیلی دی پوهه شئ چه پتاسو کښې هیڅ یو تن خپل رب د مرګ نه مخکښې نۀ

شي ليدے[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ انْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ حَتَّى وَجَدَ ابْنَ صَيَّادٍ غُلَامًا قَدْ نَاهَزَ الْحُلُمَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ عِنْدَ أُطُمِ بَنِي مُعَاوِيَةَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ إِلَى مُنْتَهَى حَدِيثِ عُمَرَ بْنِ ثَابِتٍ وَفِي الْحَدِيثِ عَنْ يَعْقُوبَ قَالَ قَالَ أُبَيٌّ يَعْنِي فِي قَوْلِهِ لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ قَالَ لَوْ تَرَكَتْهُ أُمُّهُ بَيَّنَ أَمْرَهُ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے رسول اللهﷺ لاړو او د حضرتﷺ سره يو جماعت وو د خپلو صحابؤ، په هغوی کښې عمر بن الخطابؓ هم وو. تردے پورے چه حضرتﷺ ابن صياد لره اوموندو چه بلوغ ته نژدے يو هلك وو. هغهٔ د هلکانو سره د بنومعاويه د غونډئ سره لوبے کولے. (مخکښې ئے پوره حديث بيان کړو د يونس د حديث پشان د عمر بن ثابتؓ د حديث د آخره پورے. او په دے حديث کښې د يعقوب په روايت کښې دی چه څما پلار وئيلے دی کچرے هغے دهٔ لره ، نو هغهٔ به بيان کړے وے. يعنی کچرے د هغهٔ مور دهٔ لره پريخے وے نو هغهٔ به خپله معامله بيانوله

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ مَرَّ بِابْنِ صَيَّادٍ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ عِنْدَ أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ وَهُوَ غُلَامٌ بِمَعْنَى حَدِيثِ يُونُسَ وَصَالِحٍ غَيْرَ أَنَّ عَبْدَ بْنَ حُمَيْدٍ لَمْ يَذْكُرْ حَدِيثَ ابْنِ عُمَرَ فِي انْطِلَاقِ النَّبِيِّ ﷺ مَعَ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ إِلَى النَّخْلِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ د ابن صياد په خوا تير شو د خپلو څو صحابؤ سره، په هغوی کښې عمر بن الخطابؓ هم وو. په دغه وخت هغهٔ د هلکانو سره د بنی مغاله د غونډئ سره لوبے کولے. او هغه يو هلك وو. مخکښې روايت د يونس او د صالح د حديث پشان دے. مگر د عبد بن حميد د ابن عمرؓ په حديث کښې د رسول اللهﷺ تلل د ابی بن کعبؓ سره په باغ ته.

عَنْ نَافِعٍ قَالَ لَقِيَ ابْنُ عُمَرَ ابْنَ صَائِدٍ فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهُ قَوْلًا أَغْضَبَهُ فَانْتَفَخَ حَتَّى مَلَأَ السِّكَّةَ

د نافع نه روايت دے وائی چه ابن عمرؓ د ابن صياد سره د مدينے په يوه لاره کښې ميلاؤ شو نو ابن عمرؓ يو خبره داسے اوکړه چه په هغے ابن صياد غصه شو. هغه دومره اوپړسيدهٔ چه لاره بنده شوه. ابن عمرؓ

---

[1] مازری وائی د دے حديث نه دا وتلے ده چه په آخرت کښې به د الله تعالی ديدار وی او دغه مذهب دے د خاوندانو د حق او کچرے د الله ديدار محال وے لکه چه معتزله وائی نو د مرگ د قيد لگولو نه څهٔ فائده وه. او د دے مضمون احاديث په کتاب الايمان کښې تير شوے دی. او په دنيا کښې د الله ديدار محال نهٔ دے. د اهل حقو په نز بلکه ممکن دے ليکن اختلاف دے چه دا ديدار چا ته شوے دے يا نه دغهٔ شان اختلاف دے په دے کښې چه رسول اللهﷺ د معراج په شپه الله تعالی ليدلے دے يا نه انتهی

فَدَخَلَ ابْنُ عُمَرَ عَلَى حَفْصَةَ وَقَدْ بَلَغَهَا فَقَالَتْ لَهُ رَحِمَكَ اللهُ مَا أَرَدْتَ مِنْ ابْنِ صَائِدٍ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا يَخْرُجُ مِنْ غَضْبَةٍ يَغْضَبُهَا

عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ نَافِعٌ يَقُولُ ابْنُ صَيَّادٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ لَقِيتُهُ مَرَّتَيْنِ قَالَ فَلَقِيتُهُ فَقُلْتُ لِبَعْضِهِمْ هَلْ تَحَدَّثُونَ أَنَّهُ هُوَ قَالَ لَا وَاللهِ قَالَ قُلْتُ كَذَبْتَنِي وَاللهِ لَقَدْ أَخْبَرَنِي بَعْضُكُمْ أَنَّهُ لَنْ يَمُوتَ حَتَّى يَكُونَ أَكْثَرَكُمْ مَالًا وَوَلَدًا فَكَذٰلِكَ هُوَ زَعَمُوا الْيَوْمَ قَالَ فَتَحَدَّثْنَا ثُمَّ فَارَقْتُهُ قَالَ فَلَقِيتُهُ لَقْيَةً أُخْرَى وَقَدْ نَفَرَتْ عَيْنُهُ قَالَ فَقُلْتُ مَتَى فَعَلَتْ عَيْنُكَ مَا أَرَى قَالَ لَا أَدْرِي قَالَ قُلْتُ لَا تَدْرِي وَهِيَ فِي رَأْسِكَ قَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ خَلَقَهَا فِي عَصَاكَ هٰذِهِ قَالَ فَنَخَرَ كَأَشَدِّ نَخِيرِ حِمَارٍ سَمِعْتُ قَالَ فَزَعَمَ بَعْضُ أَصْحَابِي أَنِّي ضَرَبْتُهُ بِعَصًا كَانَتْ مَعِي حَتَّى تَكَسَّرَتْ وَأَمَّا أَنَا فَوَاللهِ مَا شَعَرْتُ قَالَ وَجَاءَ حَتَّى دَخَلَ عَلَى أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ فَحَدَّثَهَا فَقَالَتْ مَا تُرِيدُ إِلَيْهِ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّهُ قَدْ قَالَ إِنَّ أَوَّلَ مَا يَبْعَثُهُ عَلَى النَّاسِ غَضَبٌ يَغْضَبُهُ

بَابُ ذِكْرِ الدَّجَّالِ

د ام المؤمنين حفصے خواله لاړو هغوی ته دا خبر رسيدلے وو هغوی اووے الله د پتا رحم اوکړی تا ابن صياد ولے اوچيړو تا ته معلومه نۀ ده چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. دجال چه هر کله رااوځی نو دد ے وجے نه چه غصه به شی (نو کيد ےشی چه ابن صياد دجال وی او ستا د غصه کولو د وجے نه رااوځی.

د نافع نه روايت دے وائی چه ابن عمرؓ وئيلی وو چه زۀ د ابن صياد سره دوه ځله ميلاؤ شوم. يو ځل چه ميلاؤ شوم نوما خلقو ته اووے تاسو وايئ چه ابن صياد دجال دے. هغوی اووے نه په الله قسم دے. ما اووے په الله قسم دے تا زۀ درغڅن کړم. ستاسو نه بعضو ما ته بيان کړے دے چه هغه به نۀ مری. ترد ے پور ے چه تۀ د ټولو نه زيات مالدار او صاحبِ اولاد ئے. نو هغه هم نن دغسے دے. هغوی وائی بيا ابن صياد زمونږ سره خبر ے اوکړے. بيا زۀ د هغۀ نه جدا شوم. او چه دوباره ورسره ميلاؤ شوم نو د هغۀ سترګه ګل شوے وه ما اووے دا ستا د سترګے څۀ حال دے کوم چه زۀ وينمه هغۀ اووے ما ته نۀ ده معلومه. ما اووے ستا په سَر کښې سترګه ده او تا ته نۀ ده معلومه. هغه اوے کۀ الله تعالی اوغواړی نو ستا په دے لرګی کښې به هم سترګه پيدا کړی. بيائے داسے آواز رااوويستو لکه چه خر په زوره آواز کوی. نافع وائی عبد الله بن عمرؓ د مؤمنانو د مور حفصےؓ خواله لاړو. او هغے ته ئے دا حال بيان کړو. هغوی اووے ستا څۀ کار وو د ابن صياد سره. ولے تۀ نۀ ئے خبر چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. اول چه کوم څيز دجال لره ليږی په خلقو باند ے هغه د هغۀ غصه ده (يعنی غصه به هغه رااوباسی)

باب : د دجّال بيان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ ذَكَرَ الدَّجَّالَ بَيْنَ ظَهْرَانَيِ النَّاسِ فَقَالَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَيْسَ بِأَعْوَرَ أَلَا وَإِنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُمْنَى كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِئَةٌ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ په خلقو كښې د دجال ذكر اوكړو او اوئے فرمائيل الله تعالى كانړے نۀ دے. او خبردار شئ د دجال مسيح ښۍ سترګه كاڼړګه ده.لكه د هغۀ سترګه رااوتے انګور دے[1].

---

[1] قاضي عياضؒ وائي امام مسلمؒ په دے باب كښې چه كوم حديث بيان كړي دي هغه د اهلِ حقو دليلونه دي چه دجال موجود دے.او الله تعالى به ئے د خپلو بنديګانو د ازمائش دپاره راليږي په دے شان چه هغۀ له به د لويو لويو كارونو قدرت وركړي لكه مړي ژوندي كول باران ورول د زمكے خزانے راويستل دا ټول كارونه به الله تعالى د هغۀ په لاس كوي. بيا به ئے الله تعالى عاجز كړي او هيڅوك به ئے نۀ شي قتلولے. تر دے پورے چه حضرت عيسىٰ عليه السلام به هغۀ لره قتل كړي.او الله تعالى به ايماندارو لره مضبوط ساتي. دا مذهب دے د ټولو محدثينو او فقهاؤ او خوارجو او جهيميؤ. او ځنے معتزلؤ د دے نه انكار كړے دے. او ځنو دا وئيلي دي چه د دجال پيدا كيدل صحيح دي. ليكن كوم خبرے چه هغه ښائي هغه به د نظر بندئ قسم وي او د خيالاتو پشان في الواقع به د هغے وجود وي ځكه چه كچرے د دجال داسے خبرے واقعي وي نو د انبياؤ عليهم السلامو د معجزاتو اعتبار ختميږي. او دا د هغوي غلطي ده ځكه چه دجال خو به د نبوت دعوه نۀكوي چه دا خبره به ئے د نبوت تصديق اوكړي بلكه هغه خو معاذ الله د الهيت دعوه به كوي حالانكه د هغۀ دعوه به د هغۀ په صورت حال سره غلطه وي ځكه چه هغه به كانړے وي. او د ټولو حديثو نخښے به په هغۀ كښې موجود وي. او هغه به د خپل عيب لرے كولو او په تندي باندے د كافر لفظ د ورانولو نه عاجز وي. په دے صورت كښې به د عقل نه خالي يا طمّاع يا يريدونكے خلق د هغۀ تابعدار وي.ځكه چه د هغۀ فتنه به ډيره غټه وي او هغه به دومره نۀ حصاريږي چه د كمزوري عقل خلق د هغۀ په حال كښې غور اوكړي. ځكه پيغمبرانوؑ د هغۀ د فتنے نه يرول كړي دي او د هغۀ د دروغژن كيدو دلائل ئے بيان كړي دي او كومو خلقو له چه الله تعالى د نيكئ توفيق وركړے دے هغه به چرته هم ددۀ نۀ مني او نۀ به ئے په فريب كښې راځي. او څوك چه دجال ئے مړ كړي او بيائے ژوندے كړي هغه به ددغه خلقو نه وي نو اوبه وائي چه ما ته ستا د وژلو او بيا ژوندي كولو نه نور زيات يقين راغے چه تۀ دجال ئے. ختم شو كلام د قاضي عياضؒ.

د اردو كتاب مترجم وائي چه دجال خو به د مړو ژوندي كول اوبۀ ورول او جنت دوزخ ورسره كيدل دومره غټے غټے خبرے ښائي نو كۀ جاهل خلق ئے تابعدار شي نو څۀ د حيرانتيا خبره نۀده. ځكه چه جاهلان خو د دجال نه د مكے درجے د خلقو په خلاف عادت يوه خبره نۀ شي ښودلے تابعدار كيږي. او معاذ الله د هغوي ذ الوهيت د عوے لره رښتونے ګڼړي. زمونږ په زمانه كښې آغاخان په بمبئ كښې يو سړے تير شوے دے چه هغه به ډيرو خلقو الله ګڼړلو. د بنيادمو پشان پيدا كيدونكے او مړ كيدونكے څنګه الله كيدےشي. او عجيبه داده چه خواجګان بے چاره خو جاهلان دي نن هغه قوم چه په دنياوي علومو كښې خپل ثاني نۀ لري او په عقل كمال كښې د آنَا وَلاَ غَيْرِيِ ساه اخلي د يو بشر په نسبت چه زمونږ په شان يو سړے وو د بنده د ګيډے نه پيدا شوے وو د ربوبيت اعتقاد لره. هائے افسوس د نصراؤ په علم او معرفت باندے. په ټولو څيزونو كښې خو هغه د عقل نه كار اخلي او خاص په خپل اعتقاد كښې داسے ركيك د بے وقوفئ خبره بے لاتكلفه مني. أميد دے چه په څو ورځو كښې يو كم عقلمند نصرانيان دي هغه د دغه لغوے عقيدے نه واپس شي او د اسلام رښتونے دين اختيار كړي چه سوا د يو الله نه بل څوك الله نشته او نور ټول خلق د هغۀ بنديګان او غلامان دي الله د پخپل فضل سره د نصراؤ زړۀ كهولاؤ كړي چه هغه دا رښتونے خبره اومني نو په دنيا به سپړلے راشي. او دوه لوئے لوئے زبردست مذهبه يعني اسلام او عيسائيت به يو شي نو هغه وخت به د مشركانو مغلوبه كول او هغوي لره هم به د توحيد په لاره باندے راويستل آسان شي. يا

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

ابن عمرؓ د نبی ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت وکړو

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَ أُمَّتَهُ الْأَعْوَرَ الْكَذَّابَ أَلَا إِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَمَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ ك ـ ف ـ ر

د انس بن مالکؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یو نبی داسے نشته دے چه هغه خپل امت لره د کاڼه درغجن نه یرولے نهٔ وی. خبردار شئ هغه کاڼه دے او ستاسو د پروردګار کاڼه نهٔ دے. د هغهٔ د دواړو سترګو په مینځ کښ ك ف ر لیکلے دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ قَالَ الدَّجَّالُ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ ك ـ ف ـ ر ـ أَيْ كَافِرٌ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د دجال د دواړو سترګو په مینځ کښ به دا لیکلی وی. ك. ف ر یعنی کافر.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّجَّالُ مَمْسُوحُ الْعَيْنِ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ ثُمَّ تَهَجَّاهَا ك ف ر يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُسْلِمٍ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. د دجال یوه سترګه ړنده ده (په دغه واسطه هغهٔ ته مسیح وئیلے شی) د هغهٔ د دواړو سترګو په مینځ کښ کافر لیکلے دے. بیا ئے تهجے کړے دے. یعنی ك او ف او ر. هر مسلمان به هغه لوستے شی[1].

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّجَّالُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُسْرَى جُفَالُ الشَّعَرِ مَعَهُ جَنَّةٌ وَنَارٌ فَنَارُهُ جَنَّةٌ وَجَنَّتُهُ نَارٌ

د حذیفهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د دجال ګسه سترګه به کاڼړې وی (او پورته د ابن عمرؓ په حدیث کښ تیر شو چه ښۍ سترګه به ئے کاڼړې وی د دواړو نه په یو روایت کښ سهوه ده. غرض دا چه یوه سترګه به د هغهٔ کاڼړې وی)، ګڼړو ویختو

الله تهٔ په خپلو بندیګانو باندے رحم اوکړے او هغوی ته هم د نیغے لارے پوهه ورکړے او هغوی لره د پلار نیکهٔ په لاره باندے د چلیدو کچرے هغه د عقل او دین نه خلاف وی بچ کړے.

[1] نووی وائی په یو روایت کښ دی چه هر مؤمن به دا لولی کهٔ لیکلو والا وی یا نهٔ وی او صحیح قول د محققینو دا دے چه حقیقتاً به په تندی حروف لیکلی وی او د الله تعالی یو نښه د دروغو ایخودے ده او دے لره ظاهره وی د هر مسلمان دپاره خواه کهٔ لیکونکے لوستونکے وی یا نهٔ وی او خوك چه ګمان کول غواړی د هغهٔ دپاره به ظاهر نهٔ وی. او بعضو وئیلی دی دا مجاز دے او مراد دا دے چه کفر او شرارت به د هغهٔ په مخ ظاهریږی. او دا قول ضعیف دے. انتهی.

والا د هغهٔ سره به جنت او أور وی نو د هغهٔ أور جنت دے او جنت ئے أور دے (علماء وائی دا هم د الله ازمائښ دے په خپلو بندګانو چه حق حق کړی او دروغ دروغ . بیا به هغه رسوا کړی په نورو خلقو کښې به د هغهٔ عاجزی ظاهره کړی)[1].

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنَا أَعْلَمُ بِمَا مَعَ الدَّجَّالِ مِنْهُ مَعَهُ نَهْرَانِ يَجْرِيَانِ أَحَدُهُمَا رَأْيَ الْعَيْنِ مَاءٌ أَبْيَضُ وَالْآخَرُ رَأْيَ الْعَيْنِ نَارٌ تَأَجَّجُ فَإِمَّا أَدْرَكَنَّ أَحَدٌ فَلْيَأْتِ النَّهْرَ الَّذِي يَرَاهُ نَارًا وَلْيُغَمِّضْ ثُمَّ لِيُطَأْطِئْ رَأْسَهُ فَيَشْرَبَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مَاءٌ بَارِدٌ وَإِنَّ الدَّجَّالَ مَمْسُوحُ الْعَيْنِ عَلَيْهَا ظَفَرَةٌ غَلِيظَةٌ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ كَاتِبٍ وَغَيْرِ كَاتِبٍ

د حذیفهؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی زهٔ ښهٔ پوهه یم چه دجال سره به څهٔ وی د هغهٔ سره به دوه بهیدلی نهرونه وی. یو خو به په لیدو کښې سپینې أوبهٔ معلومیږی او دویم به په لیدلو کښې بل کړے شوے أور معلومیږی. پس څوك چه دا موقع اومومی او هغه نهر ته لاړ شی کوم چه په لیدو کښې أور معلومیږی او خپلې سترګې پټې کړی او سر ټیټ کړی د هغې نه اوڅښی نو هغه به یخې اوبهٔ وی. او د دجال یوه سترګه به بالکل هواره وی او په هغې به یوه غټه پهٔلۍ وی. او د هغهٔ د دواړو سترګو په مینځ کښې به کافر لیکلے شوے وی. چه هر مؤمن به ئے لولی خواه کهٔ په لیکلو پوهیږی یا نهٔ پوهیږی.

عَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ فِي الدَّجَّالِ إِنَّ مَعَهُ مَاءً وَنَارًا فَنَارُهُ مَاءٌ بَارِدٌ وَمَاؤُهُ نَارٌ فَلَا تَهْلِكُوا قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ وَأَنَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حذیفهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه د دجال سره به اوبهٔ او أور وی پس أور د هغهٔ اوبهٔ یخې دی او اوبهٔ د هغهٔ أور دے. نو خپل ځان مهٔ هلاکوئ (په هغه اوبو کښې) ابومسعودؓ اووئیل ما هم دا د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی.

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ انْطَلَقْتُ مَعَهُ إِلَى حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ فَقَالَ لَهُ عُقْبَةُ حَدِّثْنِي مَا سَمِعْتَ مِنْ

د ربعی بن خراش نه روایت دے وائی چه زهٔ د عقبه بن عمروؓ او د ابی مسعود انصاریؓ سره د حذیفه بن الیمانؓ خواله لاړم. عقبهؓ حذیفهؓ ته اووے ما ته بیان کړه هغه څهٔ چه تا د رسول اللهﷺ نه د

[1] مراد دا دے چه أور د هغهٔ به باغ شی په حقیقت کښې د مؤمنانو د پاره او باغ به ئے أور شی د خپلو تابعدارو د پاره او د هغهٔ کارخانه تو له نظر بندی ده.

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الدَّجَّالِ قَالَ إِنَّ الدَّجَّالَ يَخْرُجُ وَإِنَّ مَعَهُ مَاءً وَنَارًا فَأَمَّا الَّذِي يَرَاهُ النَّاسُ مَاءً فَنَارٌ تُحْرِقُ وَأَمَّا الَّذِي يَرَاهُ النَّاسُ نَارًا فَمَاءٌ بَارِدٌ عَذْبٌ فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَقَعْ فِي الَّذِي يَرَاهُ نَارًا فَإِنَّهُ مَاءٌ عَذْبٌ طَيِّبٌ فَقَالَ عُقْبَةُ وَأَنَا قَدْ سَمِعْتُهُ تَصْدِيقًا لِحُذَيْفَةَ

دجال په باره کښې اوریدلې دي حذيفه ؓ اووے حضرت ﷺ فرمائيلي دي دجال به راووځي او د هغهٔ سره به اوبهٔ او أور وي نو کوم لره چه خلق اوبهٔ ويني هغه به أور وي سيزونکے او کوم چه خلق أور ويني هغه به يخے او خوږے اوبهٔ وي . پس چا چه ستاسو نه دغه موقع اومونده هغهٔ له پکار دي چه کوم أور ښکاري په هغې کښې اوغورځيږي ځکه چه هغه خوږے پاکے او بهٔ دي. عقبه اووے د حذيفه د تصديق کولو دپاره چه ما هم دا حديث اوريدلے دے.

عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ قَالَ اجْتَمَعَ حُذَيْفَةُ وَأَبُو مَسْعُودٍ فَقَالَ حُذَيْفَةُ لَأَنَا بِمَا مَعَ الدَّجَّالِ أَعْلَمُ مِنْهُ إِنَّ مَعَهُ نَهْرًا مِنْ مَاءٍ وَنَهْرًا مِنْ نَارٍ فَأَمَّا الَّذِي تَرَوْنَ أَنَّهُ نَارٌ مَاءٌ وَأَمَّا الَّذِي تَرَوْنَ أَنَّهُ مَاءٌ نَارٌ فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَأَرَادَ الْمَاءَ فَلْيَشْرَبْ مِنَ الَّذِي يَرَاهُ أَنَّهُ نَارٌ فَإِنَّهُ سَيَجِدُهُ مَاءً قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ هَكَذَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د ربعي بن حراش نه روايت دے وائي چه حذيفه ؓ او ابومسعود ؓ دواړه يو ځائے شو نو حذيفه ؓ اووے زهٔ د هغوی نه زيات خبر يم چه څهٔ به دجال سره وي د هغهٔ سره به يو نهر د اوبو وي او يو د أور. پس کوم چه تاسو أور وينئ هغه به اوبهٔ وي. او کوم چه تاسو اوبهٔ وينئ هغه أور دے. پس څوک چه ستاسو نه دا وخت اومومي او اوبهٔ څکل غواړي هغه دِ د هغه نهر نه څکي کوم چه أور معلوميږي نو هغه به زې اوبهٔ اومومي ابومسعود ؓ اووے ما هم د رسول الله ﷺ نه دا سے اوريدلي دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ عَنِ الدَّجَّالِ حَدِيثًا مَا حَدَّثَهُ نَبِيٌّ قَوْمَهُ إِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّهُ يَجِيءُ مَعَهُ مِثْلُ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَالَّتِي يَقُولُ إِنَّهَا الْجَنَّةُ هِيَ النَّارُ وَإِنِّي أَنْذَرْتُكُمْ بِهِ كَمَا أَنْذَرَ بِهِ نُوحٌ قَوْمَهُ

د ابوهريره ؓ نه رويت دے وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل . آيا زهٔ تاسو ته د دجال يوه خبره داسے اونهٔ کړم چه هغه يو نبي هم خپل أمت ته نهٔ وي کړې هغه بهٔ کاڼړے وي او دهغهٔ سره د جنت او دوزخ پشان دوه څيزونه وي خو کوم ته چه هغه جنت وائي په حقيقت کښې به هغه أور وي. او زهٔ تاسو لره د هغهٔ نه يروم لکه چه نوح ؑ خپل قوم يرولے وو.

عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نواس بن سمعان ؓ نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ د دجال يو سحر ذکر اوکړو نو کله ئے هغه زياتوړ او کله به ئے کموڼ (يعني کله به ئے د هغهٔ

الدَّجَّالَ ذَاتَ غَدَاةٍ فَخَفَّضَ فِيهِ وَرَفَّعَ حَتَّى ظَنَنَّاهُ فِي طَائِفَةِ النَّخْلِ فَلَمَّا رُحْنَا إِلَيْهِ عَرَفَ ذَلِكَ فِينَا فَقَالَ مَا شَأْنُكُمْ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ ذَكَرْتَ الدَّجَّالَ غَدَاةً فَخَفَّضْتَ فِيهِ وَرَفَّعْتَ حَتَّى ظَنَنَّاهُ فِي طَائِفَةِ النَّخْلِ فَقَالَ غَيْرُ الدَّجَّالِ أَخْوَفُنِي عَلَيْكُمْ إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا فِيكُمْ فَأَنَا حَجِيجُهُ دُونَكُمْ وَإِنْ يَخْرُجْ وَلَسْتُ فِيكُمْ فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِهِ وَاللهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ إِنَّهُ شَابٌّ قَطَطٌ عَيْنُهُ طَافِئَةٌ كَأَنِّي أُشَبِّهُهُ بِعَبْدِ الْعُزَّى بْنِ قَطَنٍ فَمَنْ أَدْرَكَهُ مِنْكُمْ فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ فَوَاتِحَ سُورَةِ الْكَهْفِ إِنَّهُ خَارِجٌ خَلَّةً بَيْنَ الشَّأْمِ وَالْعِرَاقِ فَعَاثَ يَمِينًا وَعَاثَ شِمَالاً يَا عِبَادَ اللهِ فَاثْبُتُوا قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا لَبْثُهُ فِي الأَرْضِ قَالَ أَرْبَعُونَ يَوْمًا يَوْمٌ كَسَنَةٍ وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ فَذَلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَسَنَةٍ أَتَكْفِينَا فِيهِ صَلاَةُ يَوْمٍ قَالَ لاَ اقْدُرُوا لَهُ قَدْرَهُ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا إِسْرَاعُهُ فِي الأَرْضِ قَالَ كَالْغَيْثِ اسْتَدْبَرَتْهُ الرِّيحُ فَيَأْتِي عَلَى الْقَوْمِ

سپکوالے لوکړو لو کله به نے د هغهٔ فتنے ته لویه لووے یا به نے کله په لوچت آواز سره خبرے لوکړے لو کله په غلی آواز سره) تردے پورے چه زمونږ خیال شو چه دے اونو په بڼ کښ دجال راغے. هر کله چه بیا مونږ د حضرت ﷺ خواله ملبنام ته لاړو نو حضرت ﷺ زمونږ په مخونو باندے د هغے اثر معلوم کړو (یعنی د یرے او خوف) حضرت ﷺ اوفرمائیل ستاسو څهٔ حال دے؟ مونږ عرض اوکړو یا رسول الله تاسو د دجال ذکر اوکړو لو هغه مو دومره کم او زیات کړو تردے پورې چه زمونږ یقین راغے چه دجال په دی اونو د کهجورو کښ موجود دے. (یعنی د هغهٔ را تګ ډیر نژدے دے) رسول الله ﷺ اوفرمائیل ما ته د دجال نه علاوه د نورو خبرو یره پتاسو باندے زیاته ده (د فتنو او په خپلو کښ د جنګیدو) کچرے دجال راووتو او زهٔ پتاسو کښ موجود وم ستاسو نه مخکښ به زهٔ په هغهٔ الزام لګوم او تاسو به د هغهٔ د شر نه بچ کوم او کچرے هغه راووتو او زهٔ په تاسو خلقو کښ موجود نهٔ وم نو هر سړے مسلمان دِ د خپل طرفنه په هغهٔ باندے الزام لګوی او الله تعالی ځما خلیفه او نګهبان دے په هر مسلمان باندے. البته دجال خو ځوان ګرګوتو ویختو والا دے. لکه چه زهٔ مشابهت ورکوم د هغهٔ د عبد العزّیٰ بن قطن سره (عبد العزیٰ یو کافر وو) پس کوم سړے چه ستاسو نه دجال اوومومی هغهٔ له پکار دی چه د سورة کهف د اول سر ایتونه په هغهٔ باندے اولولی. مقرر به راوځی د شام او د عراق د مینځ په لاره سره نو خرابی به غور ځوی ښیٔ او فساد به اوچتوی اے د الله بندیګانو! په ایمان باندے قائم اوسیږئ صحابوؓ عرض اوکړو یا رسول اللهؐ هغه به په زمکه باندے څومره اوسیږی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل د څلویښتو ورځو پورے. چه یوه ورځ به د هغے د کال برابر وی او دویمه ورځ به د میاشتے او دریمه ورځ به د هفتے او باقی ورځے به لکه د نورو ورځو پشان وی (نو زمونږ د

فَيَدْعُوهُمْ فَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَجِيبُونَ لَهُ فَيَأْمُرُ السَّمَاءَ فَتُمْطِرُ وَالأَرْضَ فَتُنْبِتُ فَتَرُوحُ عَلَيْهِمْ سَارِحَتُهُمْ أَطْوَلَ مَا كَانَتْ ذُرًا وَأَسْبَغَهُ ضُرُوعًا وَأَمَدَّهُ خَوَاصِرَ ثُمَّ يَأْتِي الْقَوْمَ فَيَدْعُوهُمْ فَيَرُدُّونَ عَلَيْهِ قَوْلَهُ فَيَنْصَرِفُ عَنْهُمْ فَيُصْبِحُونَ مُمْحِلِينَ لَيْسَ بِأَيْدِيهِمْ شَيْءٌ مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَيَمُرُّ بِالْخَرِبَةِ فَيَقُولُ لَهَا أَخْرِجِي كُنُوزَكِ فَتَتْبَعُهُ كُنُوزُهَا كَيَعَاسِيبِ النَّحْلِ ثُمَّ يَدْعُو رَجُلًا مُمْتَلِئًا شَبَابًا فَيَضْرِبُهُ بِالسَّيْفِ فَيَقْطَعُهُ جَزْلَتَيْنِ رَمْيَةَ الْغَرَضِ ثُمَّ يَدْعُوهُ فَيُقْبِلُ وَيَتَهَلَّلُ وَجْهُهُ يَضْحَكُ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللهُ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ فَيَنْزِلُ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ شَرْقِيَّ دِمَشْقَ بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ وَاضِعًا كَفَّيْهِ عَلَى أَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ إِذَا طَأْطَأَ رَأْسَهُ قَطَرَ وَإِذَا رَفَعَهُ تَحَدَّرَ مِنْهُ جُمَانٌ كَاللُّؤْلُؤِ فَلَا يَحِلُّ لِكَافِرٍ يَجِدُ رِيحَ نَفَسِهِ إِلَّا مَاتَ وَنَفَسُهُ يَنْتَهِي حَيْثُ يَنْتَهِي طَرْفُهُ فَيَطْلُبُهُ حَتَّى يُدْرِكَهُ بِبَابِ لُدٍّ فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يَأْتِي عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ قَوْمٌ

ورځو په حساب به دجال د یو کال دوه میاشتو لو څلورلسو ورځو پورې وی)، صحابؤ عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ کومه ورځ چه د کال برابر وی په هغه ورځ به هم ددغه یوې ورځې د مونځ پوره والے وی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل نه تاسو به اندازه کوئ په هغه ورځ ددے ورځو چه څومره وخت پس تاسو مونځ ادا کوئ په دے شان به ئے په هغه ورځ هم په اتکل ادا کوئ (اوس خو ګهړئ هم موجودے دی په دے سره د وخت اندازه په ښه طریقه کولے شی. نووی وائی کچرے حضرت ﷺ دا صفا نه وے فرمائیلے نو قیاس دا وو چه په دغه ورځ هم صرف پنځهٔ مونځونه کول کافی وو. ځکه چه شپه او ورځ کښې خواه هر څو مره لویه چه وی الله تعالیٰ پنځهٔ مونځونه فرض کړی دی مګر دا قیاس په نص سره پرېخودے شوے دے. د اُردو کتاب مترجم وائی چه په عرضِ تسعین کښې چه د خطِ استواء نه په نوے درجه باندے واقع دے. او د هغه ځائے اُفق معدل النهار دے. شپږ میاشتے پکښې ورځ او شپږ میاشتے شپه ده نو یوه شپه او ورځ د پوره کال برابر وی پس که بالفرض انسان هلته اُورسی یا پیدا شی نو په کال کښې به ورته پنځهٔ مونځو نه کول وی)، صحابؤ عرض لوکړو چه یا رسول اللهﷺ د دجال تګ به په زمکه څنګه وی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل لکه هغه باران چه هغے لره هوا د روستو نه الوزوی پس هغه چه د یو قوم خواله ورځی نو هغوی به د کفر طرفته راغواړی هغه چه په دهٔ باندے ایمان راوړی لو ددهٔ خبره اومنی نو هغه به آسمان ته حکم اوکړی هغه به پرے لویهٔ اوره وی لو زمکے ته به حکم اوکړی هغه به غلے لو وابنهٔ راالوتوکوی نو ماښام ته به ئے څناور راوستے شی د مخکښې نه زیات به د هغوی کوبونه اوږدهٔ وی غلانځے به ئے فراخه وی ددے به ئے ښیے څړیے وی بیا به دجال د بل قوم خواله ورشی هغوی به هم کفر طرفته راغواړی لیکن هغوی به ددهٔ خبره اونهٔ

قَدْ عَصَمَهُمُ اللهُ مِنْهُ فَيَمْسَحُ عَنْ
وُجُوهِهِمْ وَيُحَدِّثُهُمْ بِدَرَجَاتِهِمْ فِي
الْجَنَّةِ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أَوْحَى اللهُ
إِلَى عِيسَى إِنِّي قَدْ أَخْرَجْتُ عِبَادًا لِي
لَا يَدَانِ لِأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ فَحَرِّزْ عِبَادِي
إِلَى الطُّورِ وَيَبْعَثُ اللهُ يَأْجُوجَ
وَمَأْجُوجَ وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ
فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ
فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ
فَيَقُولُونَ لَقَدْ كَانَ بِهَذِهِ مَرَّةً مَاءٌ
وَيُحْصَرُ نَبِيُّ اللهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ
حَتَّى يَكُونَ رَأْسُ الثَّوْرِ لِأَحَدِهِمْ خَيْرًا
مِنْ مِائَةِ دِينَارٍ لِأَحَدِكُمُ الْيَوْمَ فَيَرْغَبُ
نَبِيُّ اللهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ فَيُرْسِلُ اللهُ
عَلَيْهِمُ النَّغَفَ فِي رِقَابِهِمْ فَيُصْبِحُونَ
فَرْسَى كَمَوْتِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ ثُمَّ يَهْبِطُ
نَبِيُّ اللهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى الْأَرْضِ
فَلَا يَجِدُونَ فِي الْأَرْضِ مَوْضِعَ شِبْرٍ إِلَّا
مَلَأَهُ زَهَمُهُمْ وَنَتْنُهُمْ فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللهِ
عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى اللهِ فَيُرْسِلُ اللهُ
طَيْرًا كَأَعْنَاقِ الْبُخْتِ فَتَحْمِلُهُمْ
فَتَطْرَحُهُمْ حَيْثُ شَاءَ اللهُ ثُمَّ يُرْسِلُ
اللهُ مَطَرًا لَا يَكُنُّ مِنْهُ بَيْتُ مَدَرٍ وَلَا

مني نو د هغوی نه به وا پس شی او په هغوی به قحط سالی او خشکی شی د هغوی په لاسونو کښې به د هغوی د مالونو نه څه پاتې نه شی. او دجال به چه په شاړه زمکه باندې تیریږی نو هغې ته به اووائی چه اے زمکې خپلې خزانې راوباسه نو د هغه ځائې مالونه او خزانې به راووځی او د هغهٔ سره به جمع کیږی لکه د گبین مچی چه د غټې مچې نه چاپیره ګرځی جوړه وی بیا به دجال یو ځوان سړے راوغواړی او هغه به په توره اووهی او دوه ټکړے به ئے کړی لکه څنګه چه نخښنه دوه ټکړے کیږی بیا به هغه ژوندے کړی او آواز به ورته اوکړی نو هغه ځوان به ورته مخے ته راشی په خوشحالئ او خندا سره. نو دجال به په دغه حال وی چه الله تعالی به عیسیٰ ؑ رااولیږی د دمشق په ښار کښې مشرق طرفته به د سپینې منارې په خواه کښې راکوز شی. ریږے کپړے به ئے اغوستے وی او خپل دواړه لاسونه به ئے د فرښتو متو باندې ایخودی وی هر کله چه حضرت عیسیٰ ؑ خپل سر ښکته کړی نو خوله به ترے اوڅاځی او هر کله چه خپل سر پورته کوی نو د لعلونو پشان خولې به ترے بهیږی د کوم کافر په خوا کښې چه حضرت عیسیٰ ؑ راکوزیږی په هغهٔ به د حضرت ؑ دم تپ اولګی هغه به مړ شی. او د هغوی د دم اثر به تر هغې اورسی د کومې پورې چه د هغهٔ نظر رسی. بیا به حضرت عیسیٰ ؑ دجال لره اولټوی تر دے پورے چه په باب لُد کښې به ئے او مومی (لُد په شام کښې د یو غر نوم دے) او قتل به ئے کړی بیا به حضرت عیسیٰ ؑ د هغه خلقو خواله راشی کوم چه الله تعالی د دجال نه بچ کړی وی نو په شفقت سره به د هغوی په مخونو لاس راکاږی او د هغهٔ د درجو خبر به ور کړی کومې چه په جنت کښې د هغوی د پاره وی. هغوی به په دغه حال کښې وی چه الله تعالی به حضرت عیسیٰ ؑ ته وحی رااولیږی چه ما خپل داسې بندیګان ویستلی دی چه د چا هم د هغوی سره د جنګ طاقت نشته ته په پناه کښې

وَبَرٍ فَيَغْسِلُ الْأَرْضَ حَتَّى يَتْرُكَهَا كَالزَّلَفَةِ ثُمَّ يُقَالُ لِلْأَرْضِ أَنْبِتِي ثَمَرَتَكِ وَرُدِّي بَرَكَتَكِ فَيَوْمَئِذٍ تَأْكُلُ الْعِصَابَةُ مِنَ الرُّمَّانَةِ وَيَسْتَظِلُّونَ بِقِحْفِهَا وَيُبَارَكُ فِي الرِّسْلِ حَتَّى أَنَّ اللِّقْحَةَ مِنَ الْإِبِلِ لَتَكْفِي الْفِئَامَ مِنَ النَّاسِ وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْبَقَرِ لَتَكْفِي الْقَبِيلَةَ مِنَ النَّاسِ وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْغَنَمِ لَتَكْفِي الْفَخِذَ مِنَ النَّاسِ فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللهُ رِيحًا طَيِّبَةً فَتَأْخُذُهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ فَتَقْبِضُ رُوحَ كُلِّ مُؤْمِنٍ وَكُلِّ مُسْلِمٍ وَيَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ يَتَهَارَجُونَ فِيهَا تَهَارُجَ الْحُمُرِ فَعَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ

بوځه خما بنديګانو لره د طور په طرف او الله به راوليږي ياجوج او ماجوج لره او هغه به د هرے يوے لوړے نه راوځي د هغوی رومبے خلق به د طبرستان په درياب باندے تيريږي او خومره اوبۀ چه په هغے کښې وی تولے به اوڅښي بيا چه د هغوی روستے خلق هلته راځي نو وائي به چرته په دے درياب کښې اوبۀ هم وے. (بيا به ځي ترد ے پورې چه هغه غرته به اورسي چرته چه ډيرے اونے دی يعنی د بيت المقدس غر نو هغوی به وائی البته مونږ خو زمکے والا قتل کړو. نو خپل غشي او ليندے به د اسمان په طرف اولی. الله تعالی به د هغوی غشي د وينو ګنده واپس کوی هغوی به دا اوګڼړی چه اسمان والا خلق هم مړۀ شو. دا مضمون په دے روايت کښې نشته دے په دے د وړسے روايت نه اخستے شوے دے) او د الله پيغمبر عيسیٰؑ او د هغوی صحابه به ګير شوی وی تردے پورے چه د هغوی په نزد به د غوئي سر غوره وی د سلو اشرفو نه نن ستاسو په نزد (يعنی د خوراك به زياته تنګی وی) بيا به الله پيغمبر عيسیٰؑ او د هغۀ ملګری دعا اوغواړی نو الله تعالی به د ياجوج او ماجوج په خلقو باندے عذاب راوليږی د هغوی په څټونو کښې به چينجی پيدا شی نو د سحره پورے به ټول لکه د يو سړی مړۀ شی بيا به د الله رسول عيسیٰؑ او د هغۀ ملګری زمکے ته راکوز شی نو په زمکه کښې به يو لويشت ځائے هم د بدبوئ او ګندګئ نه خالی او نۀ مومی. (يعنی په توله زمکه باندے به د هغوی بدبويه شوی لاشونه پراته وی) بيا به د الله پيغمبر عيسیٰؑ او د هغۀ ملګری به د الله نه دعا اوغواړی نو الله تعالی به چرچڼے راوليږی د غټو اوښانو د څټونو برابر. هغوی به هغه لاشونه اوچت کړی او چرته چه د الله حکم وی هلته به ئے اوغورځوی بيا به الله تعالی داسے اوبۀ اوروی چه يو کور د خاورے او وېختو به په هغه او يو سره پټے نۀ شی. پس الله به زمکه اووېنځي تردے پورے چه زمکه به په

مثل د حوض یا باغ جوړه کړي بیا بهٔ زمکے ته حکم اوشي چه خپلے میوے زرغونے کړه او خپل برکت خور کړه. په هغه ورځ به یو انار یو جماعت اوخوري او د هغے د پوستکي نه به بنګله غونډے جوړه کړي او د هغے په سورې به کیني. او په پیو کښ به برکت شي تر دے پورې چه پیٔ ورکونکے اوښه به د خلقو د یو لوئے جماعت دپاره کافي وي. او پیٔ ورکونکے بزه به د یو نیکهٔ د اولاد دپاره پوره وي. پس خلق به په دغه حالت کښ وي چه ناڅا په به الله تعالی یوه پاکه هوا رااولیږي چه د هغوي د ترخونو لاندے به اولګی او اثر به اوکړي نو د هر مؤمن مسلمان روح به قبض کړي او ناکاره بد ذاته خلق به باقي پاتے شي چه په خپلو کښ به د خرو پشان جهګړه کوي په هغوي به قیامت قائمیږي[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ مَا ذَكَرْنَا وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ لَقَدْ كَانَ بِهٰذِهِ مَرَّةً مَاءٌ ثُمَّ يَسِيرُونَ حَتَّى يَنْتَهُوا إِلَى جَبَلِ الْخَمَرِ وَهُوَ جَبَلُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ فَيَقُولُونَ لَقَدْ قَتَلْنَا مَنْ فِي الْأَرْضِ هَلُمَّ فَلْنَقْتُلْ مَنْ فِي السَّمَاءِ فَيَرْمُونَ بِنُشَّابِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ فَيَرُدُّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ نُشَّابَهُمْ مَخْضُوبَةً دَمًا وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ حُجْرٍ فَإِنِّي قَدْ أَنْزَلْتُ عِبَادًا لِي لَا يَدَيْ لِأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ

د عبد الرّحمٰن بن یزید نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے څنګه چه مونږه (پورته) ذکر کړے دے. او په دیکښ دا زیاته ده چه بیا به هغه ځي تر دے پورے چه جبل الخمر ته به اورسي او هغه د بیت المقدس غر دے. بیا به هغه اووائي چه مونږ قتل کړل زمکے والاؤ لره اوس مونږ لره پکار دي چه آسمان والاؤ لره قتل کړو. نو هغوي به خپل غشي آسمان طرفته ګزار کړي نو الله تعالی به هغے لره په وینو سرهٔ واپس کړي. او د ابن حجرؒ په روایت کښ دي (الله تعالی به اوفرمائي) ما خپل داسے بندیګان راکوز کړي دي چه د هغو سره هیڅوك نهٔ شي جنګیدے.

---

[1] دجال او یاجوج ما جوج لره به الله تعالی د ایمان دارو د امتحان په واسطه به دومره طاقت ورکړے وي چه څوك د هغوي په داؤ راځي او څوك په ایمان باندے ثابت پاتے کیږي. په ایماندارو لازم دي چه د چا کافر یا د شرع نه خلاف فقیر نه د خلاف عادت کار اووینی نو په هغے د هیڅ کله اعتقاد نهٔ لري. هغه د د دجال نائب اوګنړي په ایمان او تقوی داریٔ د ہے نظر اوکړي د هغه ٠ مداري توب د خیال نه کوي. کرامات د هغه څهٔ نوم دے چه د ولي او متقي مؤمن نه سرزد شي چه د فاسق کافر او بے دینه نه اولیدے شي هغے ته نظر بندي وئیلے شي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا حَدِيثًا طَوِيلًا عَنِ الدَّجَّالِ فَكَانَ فِيمَا حَدَّثَنَا قَالَ يَأْتِي وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ نِقَابَ الْمَدِينَةِ فَيَنْتَهِي إِلَى بَعْضِ السِّبَاخِ الَّتِي تَلِي الْمَدِينَةَ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ يَوْمَئِذٍ رَجُلٌ هُوَ خَيْرُ النَّاسِ أَوْ مِنْ خَيْرِ النَّاسِ فَيَقُولُ لَهُ أَشْهَدُ أَنَّكَ الدَّجَّالُ الَّذِي حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَهُ فَيَقُولُ الدَّجَّالُ أَرَأَيْتُمْ إِنْ قَتَلْتُ هٰذَا ثُمَّ أَحْيَيْتُهُ أَتَشُكُّونَ فِي الْأَمْرِ فَيَقُولُونَ لَا قَالَ فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يُحْيِيهِ فَيَقُولُ حِينَ يُحْيِيهِ وَاللهِ مَا كُنْتُ فِيكَ قَطُّ أَشَدَّ بَصِيرَةً مِنِّي الْآنَ قَالَ فَيُرِيدُ الدَّجَّالُ أَنْ يَقْتُلَهُ فَلَا يُسَلَّطُ عَلَيْهِ

د ابوسعيد خدري رض نه روايت دے وائی چه حديث بيان کړے دے مونږ ته رسول الله ﷺ يو اوږد حديث د دجال په ذکر کښې نو دائے هم بيان اوکړو چه په هغۀ به حرام وی د مدينے په کنډو کښې داخليدل او رابه شی هغه په يوه کاړجنه زمکه باندے مدينے ته نژدے بيا به ورشی د هغۀ خواله يو سړے چه هغه به په ټولو خلقو کښې غوره وی هغه به اووائی زۀ ګواهی ورکوم چه تۀ دجال ئے د چا ذکر چه رسول الله ﷺ پخپل حديث کښې کړے دے. دجال به خلقو ته اووائی ګورئ تاسو کچرے زۀ دے اووژنم او بيائے ژوندے کړم نو تاسو ته به څۀ شك وی په دے باب کښې ؟ هغوی به اووائی نه دجال به هغه سړے قتل کړی او بيا به ئے ژوندے کړی. هغه به وائی قسم په خدائے خما مخکښې دومره يقين نۀ وو ستا په باب کښې لکه څومره چه اوس دے (يعنی اوس خو مے يقين راغے چه تۀ دجال ئے) بيا به دجال د هغۀ قتلول غواړی ليکن قتلولے به ئے نۀ شی.

عَنِ الزُّهْرِيِّ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ

د زهری نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَتَوَجَّهُ قِبَلَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فَتَلْقَاهُ الْمَسَالِحُ مَسَالِحُ الدَّجَّالِ فَيَقُولُونَ لَهُ أَيْنَ تَعْمِدُ فَيَقُولُ أَعْمِدُ إِلَى هٰذَا الَّذِي خَرَجَ قَالَ فَيَقُولُونَ لَهُ أَوَ مَا تُؤْمِنُ بِرَبِّنَا فَيَقُولُ مَا بِرَبِّنَا خَفَاءٌ فَيَقُولُونَ اقْتُلُوهُ فَيَقُولُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ أَلَيْسَ قَدْ نَهَاكُمْ رَبُّكُمْ أَنْ تَقْتُلُوا أَحَدًا دُونَهُ قَالَ فَيَنْطَلِقُونَ بِهِ إِلَى

د ابوسعيد خدری رض نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی دجال به راوځی او د مسلمانانو نه به يو سړے د هغۀ په طرف لاړ شی. په لاره کښې به هغۀ ته د دجال وسله بند خلق ميلاؤ شی. هغوی به ددۀ نه تپوس اوکړی تۀ چرته ځے؟ هغه به اووائی زۀ د هغه سړی خواله ځم چه راوتلے دے. هغوی به ورته اووائی ولے تا زمونږ په مالك باندے ايمان نۀ دے راوړے. هغه سړے به اووائی خما مالك پټ کړے شوے نۀ دے. دجاليان به اووائی چه دے مړ کړئ بيا به په خپلو کښې اووائی چه زمونږ مالك (دجال) خو مونږ منع کړی يو د چا د وژلونه د کومے پورې چه د هغۀ مخے ته مو بوتلے نۀ وی نو هغه

الدَّجَّالِ فَإِذَا رَآهُ الْمُؤْمِنُ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ هٰذَا الدَّجَّالُ الَّذِي ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَيَأْمُرُ الدَّجَّالُ بِهِ فَيُشَبَّحُ فَيَقُولُ خُذُوهُ وَشُجُّوهُ فَيُوسَعُ ظَهْرُهُ وَبَطْنُهُ ضَرْبًا قَالَ فَيَقُولُ أَوَمَا تُؤْمِنُ بِي قَالَ فَيَقُولُ أَنْتَ الْمَسِيحُ الْكَذَّابُ قَالَ فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُؤْشَرُ بِالْمِئْشَارِ مِنْ مَفْرِقِهِ حَتَّى يُفَرَّقَ بَيْنَ رِجْلَيْهِ قَالَ ثُمَّ يَمْشِي الدَّجَّالُ بَيْنَ الْقِطْعَتَيْنِ ثُمَّ يَقُولُ لَهُ قُمْ فَيَسْتَوِي قَائِمًا قَالَ ثُمَّ يَقُولُ لَهُ أَتُؤْمِنُ بِي فَيَقُولُ مَا ازْدَدْتُ فِيكَ إِلَّا بَصِيرَةً قَالَ ثُمَّ يَقُولُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَا يَفْعَلُ بَعْدِي بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ قَالَ فَيَأْخُذُهُ الدَّجَّالُ لِيَذْبَحَهُ فَيُجْعَلُ مَا بَيْنَ رَقَبَتِهِ إِلَى تَرْقُوَتِهِ نُحَاسًا فَلَا يَسْتَطِيعُ إِلَيْهِ سَبِيلًا قَالَ فَيَأْخُذُ بِيَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَيَقْذِفُ بِهِ فَيَحْسِبُ النَّاسُ أَنَّمَا قَذَفَهُ إِلَى النَّارِ وَإِنَّمَا أُلْقِيَ فِي الْجَنَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا أَعْظَمُ النَّاسِ شَهَادَةً عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ۔

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ مَا سَأَلَ أَحَدٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّجَّالِ أَكْثَرَ مِمَّا سَأَلْتُ قَالَ وَمَا يُنْصِبُكَ مِنْهُ إِنَّهُ لَا يَضُرُّكَ قَالَ قُلْتُ يَا

سړے به د دجال خواله بوځي. هر كله چه هغه (دجال) اووينى نو اوبه واى چه اے خلقو دا خو دجال دے د چا خبر چه رسول الله ﷺ دركړے وو. دجال به خپلو خلقو ته حكم اوكړى چه ددهٔ سر د اوشلولے شي. دے اونيسئ او سر ئے اوشلوئ او ګيډه او شا ئے هم اووهئ بيا به ترے دجال تپوس اوكړى تهٔ په ما باندے يقين نهٔ كوے (ځما په ربوبيت باندے) هغه سړے به اووائى تهٔ دروغژن مسيح ئے. بيا به د دجال په حكم د سر نه د خپو پورے اوڅيرلے شي په آره سره تردے پورے چه دوه ټكړے به شي. بيا به دجال د هغهٔ دواړو ټكړو مينځ ته ورشي او اوبه وائي پاڅه اودريږه. هغه سړے به (ژوندے) شي او اودريږي به نيغ بيا به ترے تپوس اوكړى چه اوس تا په ما باندے ايمان راوړے دے. هغه به اووائى ځما خو نور زيات يقين راغے چه تهٔ دجال ئے. بيا به خلقو ته اووائى اے خلقو! اوس دجال ځما نه سوا د بل چا سره دا كار نهٔ شي كولے (يعنى اوس څوك نهٔ شي ژوندے كولے) بيا به دجال هغه اونيسى د ذبح كولو دپاره خو هغه به د مرئ نه واخله د څټه پورے د تانبے شي او هغه به ئے ذبحه نهٔ كړے شي.بيا به ئے دجال دلاسونو او خپو نه نيولے اوغورځوى. خلق به وائي چه په اُور كښ ئے اوغورځوو. حالانكه هغه به جنت ته غورځيدلے وى. رسول الله ﷺ فرمائيلى دى دا سړے د ټولو خلقو نه د الله په نزد لوئے شهيد دے.

د مغيره بن شعبهؓ نه روايت دے وائى چه هيچا د رسول الله ﷺ نه د دجال متعلق دومره تپوس نهٔ دے كړے څومره چه ما تپوس كړے دے. حضرت ﷺ اوفرمائيل تهٔ ولے فكر كوے دجال تالره نقصان نهٔ شي دركولے. ما اووے يا رسول الله دَ هغهٔ سره به خوراك وى نهرونه

رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ إِنَّ مَعَهُ الطَّعَامَ وَالْأَنْهَارَ قَالَ هُوَ أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ ذٰلِكَ

عَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ مَا سَأَلَ أَحَدٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّجَّالِ أَكْثَرَ مِمَّا سَأَلْتُهُ قَالَ وَمَا سُؤَالُكَ قَالَ قُلْتُ إِنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَعَهُ جِبَالٌ مِنْ خُبْزٍ وَلَحْمٍ وَنَهَرٌ مِنْ مَاءٍ قَالَ هُوَ أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ ذٰلِكَ

عَنْ إِسْمٰعِيْلَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيْثِ إِبْرَاهِيْمَ بْنِ حُمَيْدٍ وَزَادَ فِي حَدِيْثِ يَزِيْدَ فَقَالَ لِي أَيْ بُنَيَّ

عَنْ يَعْقُوْبَ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عُرْوَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ الثَّقَفِيِّ يَقُوْلُ سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو وَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ مَا هٰذَا الْحَدِيْثُ الَّذِيْ تُحَدِّثُ بِهِ تَقُوْلُ إِنَّ السَّاعَةَ تَقُوْمُ إِلٰى كَذَا وَكَذَا فَقَالَ سُبْحَانَ اللهِ أَوْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهُمَا لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أُحَدِّثَ أَحَدًا شَيْئًا أَبَدًا إِنَّمَا قُلْتُ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدَ قَلِيْلٍ أَمْرًا عَظِيْمًا يُحَرَّقُ الْبَيْتُ وَيَكُوْنُ وَيَكُوْنُ ثُمَّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فِيْ أُمَّتِيْ فَيَمْكُثُ أَرْبَعِيْنَ لَا أَدْرِيْ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا أَوْ أَرْبَعِيْنَ شَهْرًا أَوْ أَرْبَعِيْنَ

به وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل وی به خو د الله په ټر به هغه ذلیله وی یعنی څهٔ چه د هغهٔ سره وی په هغے سره هغه مؤمنان نشی گمراه کولے. (دا د حدیث حاصل دے او دا حدیث پورته تیر شوے دے)

د مغیره بن شعبهؓ نه روایت دے چه یو سری د رسول الله ﷺ نه د دجال په باره کښې څما نه زیات سوالونه نهٔ دی کړی. راوی وائی چه تاسو څهٔ تپوسلی وو. هغوی اووے خلق وائی چه د هغهٔ سره به غرونه وی د روټو او د غوښے او د اوبو نهرونه به وی. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. هغه به ذلیله وی د اللهؓ په ټر باوجود دد دے نه.

د اسمٰعیل نه په دے اسناد سره د ابراهیم بن حمید د حدیث پشان روایت دے. او د یزید په حدیث کښې دا زیاته ده چه حضرت ﷺ ما ته اوفرمائیل اَیْ بُنَیَّ. (اے څما ځویه)

د یعقوب بن عاصم بن عروه بن مسعود ثقفیؓ نه روایت دے وائی چه ما د عبد الله بن عمرؓ نه اوریدلی دی چه د هغوی خواله یو سړے راغے او اوئے وئیل دا حدیث څهٔ دے کوم چه تهٔ بیانوے چه قیامت به په دومره فوده کښې وی. هغوی اووے (په حیرانتیا سره) سُبحٰن الله یا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ یا بله دَ دے پشان یوه کلمه بیانئے اووے څما اراده ده چه اوس به چا ته دا حدیث نهٔ بیانوم (ځکه چه خلق ورته څهٔ وائی او څما بلهٔ نالمی کوی) ما خو دا وئیلی وو چه تاسو به لږے ورځے پس یوه لویه حادثه اووینئ چه کور به سیزی او هغه به کیږی ضرور به کیږی. بیائے اووے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. دجال به څما په اُمت کښې راوځی او د څلویښتو پورے به وی. نهٔ پوهیږم چه څلویښت ورځے ئے اوفرمائیل یا څلویښت میاشتے او کهٔ څلویښت کاله بیا به الله پاک عیسیٰؑ بن مریمؑ رااولیږی. د هغوی شکل د

عامًا فيبعث الله عيسى ابن مريم كأنه عروة بن مسعود فيطلبه فيهلكه ثم يمكث الناس سبع سنين ليس بين اثنين عداوة ثم يرسل الله ريحا باردة من قبل الشام فلا يبقى على وجه الأرض أحد في قلبه مثقال ذرة من خير أو إيمان إلا قبضته حتى لو أن أحدكم دخل في كبد جبل لدخلته عليه حتى تقبضه قال سمعتها من رسول الله صلى الله عليه وسلم قال فيبقى شرار الناس في خفة الطير وأحلام السباع لا يعرفون معروفا ولا ينكرون منكرا فيتمثل لهم الشيطان فيقول ألا تستجيبون فيقولون فما تأمرنا فيأمرهم بعبادة الأوثان وهم في ذلك دار رزقهم حسن عيشهم ثم ينفخ في الصور فلا يسمعه أحد إلا أصغى ليتا ورفع ليتا قال وأول من يسمعه رجل يلوط حوض إبله قال فيصعق ويصعق الناس ثم يرسل الله أو قال ينزل الله مطرا كأنه الطل أو الظل نعمان الشاك فتنبت منه أجساد الناس ثم ينفخ فيه أخرى فإذا هم قيام ينظرون ثم يقال يا أيها الناس هلم إلى ربكم وقفوهم إنهم مسئولون قال ثم يقال

عروه بن مسعود ؓ پشان دے. هغه به دجال لره تلاش کوی او هغه به وژنی. بیا به اووۀ کاله خلق داسے وی چه د دوه کسانو په مینځ کښ به دشمنی نۀ وی. بیا به الله تعالی د شام د طرفنه یوه یخه هوا رااولیږی نو په زمکه به هیڅوك داسے پاتے نۀ شی چه د هغۀ په زړۀ کښ د رتئ برابر ایمان وی یا نیکی وی مگر په دے هوا سره به ئے روح لاړ شی. تردے پورے چه کچرے څوك ستاسو نه د غر په مینځ کښ ننوځی خو هلته به ترے واخلی. عبد الله ؓ وائی ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. بیا به بدکاره خلق په دنیا کښ پاتے شی جلد باز د چرچڼو پشان به د هغوی اخلاق وی. نۀ به هغوی ښۀ خبره ښۀ گڼړی او نۀ به بده خبره بده گڼړی. بیا به شیطان په یو شکل کښ د هغوی خواله راشی او اوبه وائی تاسو له شرم نۀ درځی. هغوی به اووائی پس تۀ مونږ ته څۀ حکم کوے؟ شیطان به اووائی بت پرستی کوئ هغوی به د بتانو عبادت شروع کړی او دا وخت به د هغوی رزق فراخه وی او په مزوبه ژوند تیر وی. بیا به شپیلۍ اوپوکلے شی هغه به څوك نۀ اوری او د یو طرف نه به څټ کوږ شی او د دویم طرفنه به پورته شی (یعنی بے هوشه به اوغورزیږی)، او د هر چا نه مخکښ به شپیلۍ هغه سړے اوری چه هغه خپل اوښان په حوض باندے اوبه کوی هغه به بے هوشه شی او نور خلق به هم بے هوشه شی. بیا به الله پاك د نطفے په شکل باران اووروی. په هغے سره به د خلقو بدنونه راتوکیږی . بیا به شپیلۍ اوپوکلے شی نو ټول خلق به اودریږی. گوری به بیا به آواز اوشی اے خلقو! د خپل رب خواله راشئ او اودروئ دو لره، د هغوی نه به سوال کیږی بیا به ورته اوئیلے شی یو لښکر اوباسی د دوزخ دپاره.

أَخْرِجُوا بَعْثَ النَّارِ فَيُقَالُ مِنْ كَمْ فَيُقَالُ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ قَالَ فَذَاكَ يَوْمَ يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا وَذَلِكَ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ

تپوس به اوشی څومره خلق؟ حکم به اوشی په هر زرو کښې یو کم زر اوباسئ: د دوزخ دپاره (او په زرو کښې به یو جنتی وی) حضرت ﷺ فرمائیلی دی دغه هغه ورځ ده چه ماشومان بوډاګان کوی (د هیبت او مصیبت نه یا د لوږے والی په وجه) او دا هغه ورځ ده هر کله چه پنډئ ښکاره شی. (یعنی سختی شی)

عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عُرْوَةَ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ سَمِعْتُ رَجُلًا قَالَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو إِنَّكَ تَقُولُ إِنَّ السَّاعَةَ تَقُومُ إِلَى كَذَا وَكَذَا فَقَالَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أُحَدِّثَكُمْ بِشَيْءٍ إِنَّمَا قُلْتُ إِنَّكُمْ تَرَوْنَ بَعْدَ قَلِيلٍ أَمْرًا عَظِيمًا فَكَانَ حَرِيقَ الْبَيْتِ قَالَ شُعْبَةُ هَذَا أَوْ نَحْوَهُ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فِي أُمَّتِي وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ مُعَاذٍ وَقَالَ فِي حَدِيثِهِ فَلَا يَبْقَى أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ إِيمَانٍ إِلَّا قَبَضَتْهُ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنِي شُعْبَةُ بِهَذَا الْحَدِيثِ مَرَّاتٍ وَعَرَضْتُهُ عَلَيْهِ

د یعقوب بن عاصم بن عروه بن مسعود نه روایت دے هغهٔ اووے ما اوریدلی دی یو سړی لره چه هغهٔ د عبد الله بن عمرو ؓ ته اووئیل چه ته وائے چه قیامت به په فلانی فلانی وخت وی. نو عبد الله بن عمرو ؓ اووئیل چه ما اراده کړے ده چه تا ته څهٔ حدیث بیان نهٔ کرم. ما خو صرف دا ونیلی وو چه تهٔ به نزدے یوه حادثه اووینے او دا وو د کور سوزیدل. شعبه اووے چه عبد الله دا یا دے ته نزدے نزدے اوفرمائیل. عبد الله بن عمرو ؓ اووئیل رسول الله ﷺ فرمائیلی دی . دجال به خما په امت کښې رااوځی او د معاذ د حدیث پشان پوره حدیث ئے بیان کړو. او په دے حدیث کښې اووئیل چه داسے یو سړے به باقی پاتے نهٔ شی چه د هغهٔ په زړهٔ کښې به د ذرے برابر ایمان وی مګر هغه به هغهٔ لره قبض کړی. محمد بن جعفر ؓ اووئیل شعبه ؓ دا حدیث ما ته څو ځله بیان کړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ حَدِيثًا لَمْ أَنْسَهُ بَعْدُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ إِنَّ أَوَّلَ الْآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَخُرُوجُ الدَّابَّةِ عَلَى النَّاسِ ضُحًى وَأَيُّهُمَا مَا كَانَتْ قَبْلَ

د عبد الله بن عمرو ؓ نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ یو حدیث یاد ساتلے دے چه هغه زهٔ چرته هم نهٔ هیروم روستو د اوریدو نه چه هغوی فرمائیلی وو د قیامت په ټولونخښو کښې رومبۍ نخښه د نمر د مغرب طرف نه راختل دی او د زمکے ځناور د څاښت په وخت په خلقو باندے راوتل دی په دے دواړو کښې چه

صَاحِبَتِهَا فَالْأُخْرَى عَلَى إِثْرِهَا قَرِيبًا

عَنْ أَبِي زُرْعَةَ قَالَ جَلَسَ إِلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ بِالْمَدِينَةِ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَسَمِعُوهُ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنِ الْآيَاتِ أَنَّ أَوَّلَهَا خُرُوجًا الدَّجَّالُ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو لَمْ يَقُلْ مَرْوَانُ شَيْئًا قَدْ حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا لَمْ أَنْسَهُ بَعْدُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ

عَنْ أَبِي زُرْعَةَ قَالَ تَذَاكَرُوا السَّاعَةَ عِنْدَ مَرْوَانَ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمَا وَلَمْ يَذْكُرْ ضُحًى

کوم یو مخکښې شي نو دویم به د هغې نه پس زر ظاهریږي.

د ابوزرعه نه روایت دے وائي چه په مدینه کښې د مروان سره درے مسلمانان کیښناستل او د قیامت نخښې ئے بیانولے او وئیل ئے چه د ټولو نخښو نه رومبئ نخښه د دجال راوتل دي. عبد الله بن عمرو اووے. مروان څۀ دے ما پخپله د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دي چه فرمائیلي ئے وو او ما دا حدیث نۀ دے هیر کړے. بیائے بیان کړو حدیث په دغه شان لکه چه پورته تیر شو.

د ابوزرعه نه روایت دے وائي چه د مروان په مخکښې د قیامت ذکر اوشو نو عبد الله بن عمرو اووے. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دي چه فرمائیلي ئے وو. بیائے ذکر کړو هغه شان څنګه چه پورته تیر شو. په دے کښې د ساختي د وخت ذکر نشته دے.

بَابُ قِصَّةِ الْجَسَّاسَةِ

باب : د دجال د جاسوس بیان

عَنْ عَامِرِ بْنِ شَرَاحِيلَ الشَّعْبِيِّ شَعْبِ هَمْدَانَ أَنَّهُ سَأَلَ فَاطِمَةَ بِنْتَ قَيْسٍ أُخْتَ الضَّحَّاكِ بْنِ قَيْسٍ وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلِ فَقَالَ حَدِّثِينِي حَدِيثًا سَمِعْتِيهِ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُسْنِدِيهِ إِلَى أَحَدٍ غَيْرِهِ فَقَالَتْ لَئِنْ شِئْتَ لَأَفْعَلَنَّ فَقَالَ لَهَا أَجَلْ حَدِّثِينِي فَقَالَتْ نَكَحْتُ ابْنَ الْمُغِيرَةِ وَهُوَ مِنْ خِيَارِ شَبَابِ قُرَيْشٍ يَوْمَئِذٍ فَأُصِيبَ فِي أَوَّلِ الْجِهَادِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عامر بن شراحیل نه روایت دے چه هغوی د ضحاك بن قیس خور فاطمه بنت قیس ته اووے. او دا په هغه ښځو کښې وه کومو چه رومبے هجرت کړے وو. چه بیان کړه ما ته یو حدیث هغه چه تا پخپله د رسول الله ﷺ نه اوریدلے وي او د بل چا واسطه پکښې نۀ وي. هغې اووے ښه ده چه ستا خوښه ده نو بیان به کړم درته هغوی اووے اوس ئے راته بیان کړه. فاطمې اووے ما نکاح اوکړه د مغیره د خوئ سره او هغه په دغه ورځو د قریشو د ښائسته ځوانانو نه وو. بیا هغه په رومبي جهاد کښې د رسول الله ﷺ په حمایت کښې شهید شو. پس هر کله چه زۀ کُنډه شوم نو ما ته عبد الرحمن بن عوف او نورو صحابو د رسول الله ﷺ پیغام رااولیږو او رسول الله ﷺ هم پیغام

فَلَمَّا تَأَيَّمْتُ خَطَبَنِي عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخَطَبَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى مَوْلَاهُ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ وَكُنْتُ قَدْ حُدِّثْتُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَبَّنِي فَلْيُحِبَّ أُسَامَةَ فَلَمَّا كَلَّمَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ أَمْرِي بِيَدِكَ فَأَنْكِحْنِي مَنْ شِئْتَ فَقَالَ انْتَقِلِي إِلٰى أُمِّ شَرِيكٍ وَأُمُّ شَرِيكٍ امْرَأَةٌ غَنِيَّةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ عَظِيمَةُ النَّفَقَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ يَنْزِلُ عَلَيْهَا الضِّيفَانُ فَقُلْتُ سَأَفْعَلُ فَقَالَ لَا تَفْعَلِي إِنَّ أُمَّ شَرِيكٍ امْرَأَةٌ كَثِيرَةُ الضِّيفَانِ فَإِنِّي أَكْرَهُ أَنْ يَسْقُطَ عَنْكِ خِمَارُكِ أَوْ يَنْكَشِفَ الثَّوْبُ عَنْ سَاقَيْكِ فَيَرَى الْقَوْمُ مِنْكِ بَعْضَ مَا تَكْرَهِينَ وَلَكِنِ انْتَقِلِي إِلَى ابْنِ عَمِّكِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي فِهْرٍ فِهْرِ قُرَيْشٍ وَهُوَ مِنَ الْبَطْنِ الَّذِي هِيَ مِنْهُ فَانْتَقَلْتُ إِلَيْهِ فَلَمَّا انْقَضَتْ عِدَّتِي سَمِعْتُ نِدَاءَ الْمُنَادِي مُنَادِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنَادِي الصَّلَاةَ جَامِعَةً فَخَرَجْتُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَصَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى

رااولیږو د أسامه بن زید دپاره. او ما دا حدیث اوریدلے وو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د چا چه خما سره محبت وی هغهٔ له پکار دی چه د أسامه سره هم محبت اوساتی. هر کله چه رسول الله ﷺ خما سره په دے باره کښ خبرے اوکړے. ما اووے خما د سر اختیار تاسو ته دے. تاسو چه د چا سره غواړئ خما نکاح اوکړئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل پاسه او د ام شریك کورته لاړه شهٔ او ام شریك په انصارو کښ یوه مالداره ښځه وه د الله په لاره کښ خرچه کونکے چه د هغے سره به میلمانهٔ کوزیدل. ما عرض اوکړو چه ډیره ښه ده. زهٔ به د ام شریك کورته لاړه شم. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل د ام شریك کورته مهٔ ځه د هغوی خواله میلمانهٔ ډیر راځی اوماته بد ښکاره کیږی چرته ستا د سر نه څادر اوغورځیږی. یا ستا د بدن څهٔ کپړه اوچته شی او خلق ستا د بدن هغه حصه اووینی چه تهٔ پرے بد گنړے. لیکن لاړه شه د خپل ترهٔ د ځوئ عبد الله بن عمرو بن أُم مکتوم خواله چه هغه د بنی فهر یو سړے وو او فهر د قریشو یو شاخ دے. او هغه هم د فاطمے ددغه قبیلے نه وو. فاطمه وائی بیا زهٔ د هغهٔ کورته لاړم. هر کله چه خما عدت پوره شو نو ما د یو آواز کونکی آواز واوریدوهٔ. هغه آواز کونکے د رسول الله ﷺ منادی وو چه آواز ئے کوو د مانځهٔ دپاره راجمع شئ. نو زهٔ هم د جماعت په طرف رااووتم او د رسول الله ﷺ سره مے روستو د ښځو په صف کښ مونځ ادا کړو. هر کله چه حضرت ﷺ مونځ ادا کړو. نو په منبر باندے کیناستو او خندل ئے. حضرت ﷺ اوفرمائیل هر سړے پخپل خپل ځائے کیښنئ. بیا ئے اوفرمائیل تاسو ته معلومه ده چه ما تاسو ولے راغونډ کړئ. هغوی اووے الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږی. حضرت ﷺ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنْتُ فِي صَفِّ النِّسَاءِ
الَّتِي تَلِي ظُهُورَ الْقَوْمِ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ
اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ جَلَسَ
عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقَالَ لِيَلْزَمْ كُلُّ
إِنْسَانٍ مُصَلَّاهُ ثُمَّ قَالَ أَتَدْرُونَ لِمَ جَمَعْتُكُمْ
قَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ إِنِّي وَاللهِ مَا
جَمَعْتُكُمْ لِرَغْبَةٍ وَلَا لِرَهْبَةٍ وَلَكِنْ جَمَعْتُكُمْ
لِأَنَّ تَمِيمًا الدَّارِيَّ كَانَ رَجُلًا نَصْرَانِيًّا
فَجَاءَ فَبَايَعَ وَأَسْلَمَ وَحَدَّثَنِي حَدِيثًا وَافَقَ
الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ عَنْ مَسِيحِ الدَّجَّالِ
حَدَّثَنِي أَنَّهُ رَكِبَ فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ مَعَ
ثَلَاثِينَ رَجُلًا مِنْ لَخْمٍ وَجُذَامَ فَلَعِبَ بِهِمُ
الْمَوْجُ شَهْرًا فِي الْبَحْرِ ثُمَّ أَرْفَئُوا إِلَى جَزِيرَةٍ
فِي الْبَحْرِ حَتَّى مَغْرِبِ الشَّمْسِ فَجَلَسُوا فِي
أَقْرُبِ السَّفِينَةِ فَدَخَلُوا الْجَزِيرَةَ فَلَقِيَتْهُمْ
دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرُ الشَّعَرِ لَا يَدْرُونَ مَا قُبُلُهُ
مِنْ دُبُرِهِ مِنْ كَثْرَةِ الشَّعَرِ فَقَالُوا وَيْلَكِ مَا
أَنْتِ فَقَالَتْ أَنَا الْجَسَّاسَةُ قَالُوا وَمَا
الْجَسَّاسَةُ قَالَتْ أَيُّهَا الْقَوْمُ انْطَلِقُوا إِلَى
هَذَا الرَّجُلِ فِي الدَّيْرِ فَإِنَّهُ إِلَى خَبَرِكُمْ
بِالْأَشْوَاقِ قَالَ لَمَّا سَمَّتْ لَنَا رَجُلًا فَرِقْنَا
مِنْهَا أَنْ تَكُونَ شَيْطَانَةً قَالَ فَانْطَلَقْنَا سِرَاعًا
حَتَّى دَخَلْنَا الدَّيْرَ فَإِذَا فِيهِ أَعْظَمُ إِنْسَانٍ

اوفرمائیل په الله قسم دے چه ما تاسو د رعب دپاره یا یرولو دپاره نه یئ راجمع کړی بلکه دد ے دپاره مے راجمع کړئ چه تمیم داری یو نصرانی وو هغه راغے او بیعت ئے اوکړو او مسلمان شو او ما ته ئے یو خبره بیان کړه چه موافق پریوتو د هغه حدیث کوم چه زۀ تاسو ته بیانوم د دجال په باره کښ هغه بیان اوکړو چه هغه سړے یعنی تمیم سور شو په سمندری جهاز کښ د دیرشو کسانو سره چه د لخم او جذام د قوم نه وو. نو هغوی پوره یوه میاشت د سمندر د چپو سره لوبے اوکړے (یعنی د موجونو په سختئ سره جهاز تباه شو) او بیا هغه خلق سمندر ته اوغورځیدل د یو ټاپو په خواه کښ. بیا د نمر پریوتو په وخت کښ هغوی د جهاز نه په یوه وړوکی کشتئ کښ کیناستل او په ټاپو کښ داخل شو. هلته هغوی ته یو ځناور غټے لکئ والا او ګڼړو ویختو والا میلاؤ شو چه د هغۀ مخ او شاه نۀ شوه پیژندے د ویختو د ګڼړوالی د وجے نه خلقو هغۀ ته اووے اے کمبخته تۀ څۀ شے ئے؟ هغۀ اووے زۀ جاسوس یم. خلقو اووے جاسوس څۀ دے؟ هغۀ اووے د هغۀ سړی خواله لاړ شئ کوم چه په بت خانه کښ دے ځکه چه هغه ستاسو د خبرو ډیر زیات شوق لری. تمیم وائی هر کله چه هغه د هغه سړی نوم واخستو نو مونږ د هغه ځناور نه اویریدو چه چرته شیطان نۀ وی. تمیم وائی بیا مونږ لاړو په منډه تړد ے پورے چه په بت خانه کښ داخل شو څۀ ګورو چه هلته د یو لوئے قد سړے دے چه مونږ دومره لوئے سړے او داسے سخت تړلے شوے چرته هم نۀ دے لیدلے. تړلی شوی دی د هغۀ دواړه لاسونه د څټ سره په مینځ کښ د دواړو زنګونانو کښ د دواړو ګټو پورے په اوسپنے سره. مونږه اووے اے کمبخته تۀ څۀ

رَأَيْنَاهُ قَطُّ خَلْقًا وَأَشَدُّهُ وِثَاقًا مَجْمُوعَةٌ يَدَاهُ إِلَى عُنُقِهِ مَا بَيْنَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى كَعْبَيْهِ بِالْحَدِيدِ قُلْنَا وَيْلَكَ مَا أَنْتَ قَالَ قَدْ قَدَرْتُمْ عَلَى خَبَرِي فَأَخْبِرُونِي مَا أَنْتُمْ قَالُوا نَحْنُ أُنَاسٌ مِنَ الْعَرَبِ رَكِبْنَا فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ فَصَادَفْنَا الْبَحْرَ حِينَ اغْتَلَمَ فَلَعِبَ بِنَا الْمَوْجُ شَهْرًا ثُمَّ أَرْفَأْنَا إِلَى جَزِيرَتِكَ هَذِهِ فَجَلَسْنَا فِي أَقْرُبِهَا فَدَخَلْنَا الْجَزِيرَةَ فَلَقِيَتْنَا دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرُ الشَّعَرِ لَا يُدْرَى مَا قُبُلُهُ مِنْ دُبُرِهِ مِنْ كَثْرَةِ الشَّعَرِ فَقُلْنَا وَيْلَكِ مَا أَنْتِ فَقَالَتْ أَنَا الْجَسَّاسَةُ قُلْنَا وَمَا الْجَسَّاسَةُ قَالَتِ اعْمِدُوا إِلَى هَذَا الرَّجُلِ فِي الدَّيْرِ فَإِنَّهُ إِلَى خَبَرِكُمْ بِالْأَشْوَاقِ فَأَقْبَلْنَا إِلَيْكَ سِرَاعًا وَفَزِعْنَا مِنْهَا وَلَمْ نَأْمَنْ أَنْ تَكُونَ شَيْطَانَةً فَقَالَ أَخْبِرُونِي عَنْ نَخْلِ بَيْسَانَ قُلْنَا عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ قَالَ أَسْأَلُكُمْ عَنْ نَخْلِهَا هَلْ يُثْمِرُ قُلْنَا لَهُ نَعَمْ قَالَ أَمَا إِنَّهُ يُوشِكُ أَنْ لَا تُثْمِرَ قَالَ أَخْبِرُونِي عَنْ بُحَيْرَةِ الطَّبَرِيَّةِ قُلْنَا عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ قَالَ هَلْ فِيهَا مَاءٌ قَالُوا هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ قَالَ أَمَا إِنَّ مَاءَهَا يُوشِكُ أَنْ يَذْهَبَ قَالَ أَخْبِرُونِي عَنْ عَيْنِ زُغَرَ قَالُوا عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ قَالَ هَلْ فِي الْعَيْنِ مَاءٌ وَهَلْ

شے ئے؟ هغهٔ اووے تاسو قابو اوموندهٔ زمونږ په خبر باندے (یعنی خما حال خو به تاسو ته اوس معلوم شی) خو تاسو خپل حال اووایئ چه تاسو څوك یئ؟ خلقو اووے چه مونږ عرب خلق یو چه په سمندر کښې په جهاز کښې سوارهٔ شوی وو. هر کله چه مونږ سوارهٔ شو نو سمندر مو په جوش کښې اوموندو. بیا د یوے میاشتے پورے مونږ د چپو سره لوبے کولے. روسته د هغے نه ددے ټاپو پخواه کښې اوغورزیدو. بیا مونږ په یوه کشتئ کښې کیښناستو چه هغه وړه وه. او په ټاپو کښې داخل شو په ټاپو کښې مونږ ته د یوے درنے لګئ ځناور ډیرو ویختو والا میلاؤ شو. او د ویختو د زیات والی په وجه مونږ د هغهٔ وړاندے روستو نهٔ پیژندو. مونږ هغهٔ ته اووے اے کمبخته ته څهٔ شے ئے؟ نو هغهٔ اووے زهٔ جاسوس یم. مونږ اووے جاسوس څهٔ دے؟ هغهٔ اووے لاړ شئ د هغه سړی خواله چه کوم په بت خانه کښې دے. چه البته هغه ستاسو د خبر شوق لری. نو مونږ ستا په طرف په منډه منډه راغلو او د هغهٔ نه اوویریدو چه چرته شیطان نهٔ وی. بیا هغه سړی اووے چه خبر کړئ ما لره د بیسان د نخلستان نه مونږ اووے چه زهٔ د هغے د کهجورو په باره کښې تپوس کوم چه میوے نیسی. هغهٔ اووے خبردار بیشکه نږدے ده چه هغه به میوے نهٔ نیسی. بیا هغهٔ اووے چه ما ته د طبرستان د دریاب حال اووایئ. مونږ اووے تهٔ د هغے د کوم حال تپوس کوے. هغهٔ اووے په هغے کښې اوبهٔ شته؟ خلقو اووے په هغے کښې ډیرے اوبهٔ دی. هغهٔ اووے بیشکه د هغے اوبهٔ به ډیرے زر لاړے شی. بیا هغهٔ اووے چه خبر کړئ ما لره د زغر د چینے نه خلقو اووے تهٔ د هغے د څهٔ حال تپوس کوے. هغهٔ اووے په هغے کښې اوبهٔ شته او د

يَزْرَعُ أَهْلُهَا بِمَاءِ الْعَيْنِ قُلْنَا لَهُ نَعَمْ هِيَ
كَثِيرَةُ الْمَاءِ وَأَهْلُهَا يَزْرَعُونَ مِنْ مَائِهَا
قَالَ أَخْبِرُونِي عَنْ نَبِيِّ الْأُمِّيِّينَ مَا فَعَلَ
قَالُوا قَدْ خَرَجَ مِنْ مَكَّةَ وَنَزَلَ يَثْرِبَ قَالَ
أَقَاتَلَهُ الْعَرَبُ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ كَيْفَ صَنَعَ بِهِمْ
فَأَخْبَرْنَاهُ أَنَّهُ قَدْ ظَهَرَ عَلَى مَنْ يَلِيهِ مِنَ
الْعَرَبِ وَأَطَاعُوهُ قَالَ لَهُمْ قَدْ كَانَ ذَلِكَ قُلْنَا
نَعَمْ قَالَ أَمَا إِنَّ ذَاكَ خَيْرٌ لَهُمْ أَنْ يُطِيعُوهُ
وَإِنِّي مُخْبِرُكُمْ عَنِّي إِنِّي أَنَا الْمَسِيحُ وَإِنِّي
أُوشِكُ أَنْ يُؤْذَنَ لِي فِي الْخُرُوجِ فَأَخْرُجَ
فَأَسِيرَ فِي الْأَرْضِ فَلَا أَدَعَ قَرْيَةً إِلَّا هَبَطْتُهَا
فِي أَرْبَعِينَ لَيْلَةً غَيْرَ مَكَّةَ وَطَيْبَةَ فَهُمَا
مُحَرَّمَتَانِ عَلَيَّ كِلْتَاهُمَا كُلَّمَا أَرَدْتُ أَنْ
أَدْخُلَ وَاحِدَةً أَوْ وَاحِدًا مِنْهُمَا اسْتَقْبَلَنِي
مَلَكٌ بِيَدِهِ السَّيْفُ صَلْتًا يَصُدُّنِي عَنْهَا وَإِنَّ
عَلَى كُلِّ نَقْبٍ مِنْهَا مَلَائِكَةً يَحْرُسُونَهَا
قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَطَعَنَ بِمِخْصَرَتِهِ فِي الْمِنْبَرِ هَذِهِ
طَيْبَةُ هَذِهِ طَيْبَةُ هَذِهِ طَيْبَةُ يَعْنِي الْمَدِينَةَ
أَلَا هَلْ كُنْتُ حَدَّثْتُكُمْ ذَلِكَ فَقَالَ النَّاسُ
نَعَمْ فَإِنَّهُ أَعْجَبَنِي حَدِيثُ تَمِيمٍ أَنَّهُ وَافَقَ
الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ عَنْهُ وَعَنِ الْمَدِينَةِ
وَمَكَّةَ أَلَا إِنَّهُ فِي بَحْرِ الشَّامِ أَوْ بَحْرِ الْيَمَنِ

هغه ځائے خلق په هغې زمینداري کوي؟ مونږ اووے آو په هغے کښې ډیرے اوبۀ دي او د هغه ځائے خلق پرے خپل پټي اوبۀ کوي. هغۀ اووے خبر کړئ ما لره د عربو د پیغمبر نه چه هغوي څۀ اوکړو؟ خلقو اووے چه هغه د مکے نه راووتو او مدینے ته لاړو. هغۀ اووے آیا د عربو خلق د هغوي سره اوجنګیدۀ. مونږ اووے آو. هغۀ اووے هغوي د عربو د خلقو سره څۀ اوکړۀ. مونږ اووے هغوي د ځان د خواؤ شا په عربو باندے غالب شو او ټولو ئے فرمانبرداري اوکړه. هغوي اووے دا خبره اوشوه؟ مونږه اووے آو. هغوي اووے خبردار دا خبره د هغوي دپاره غوره ده چه د پیغمبر تابعدار شو. او خامخا زۀ خبروم تاسو لره چه زۀ مسیح یم یعنی دجال په ټوله زمکه ګرځیدلو والا. او خامخا هغه زمانه نزدے ده کله چه ما ته اجازت اوشی د وتلو نو زۀ به راووځم او سیل به کوم او یو کلے به پرے نږدم دا چه هلته لاړ نۀ شم په څلویښتو شپو کښې دننه سوا د مکے او طیبے نه چه هلته تلل په ما باندے حرام یعنی منع دي. هر کله چه زۀ په دے دواړو کلو کښې یو ته د ننوتو اراده اوکړم. نو ما ته یوه فرښته رامخکښې شي او په لاس کښې به ئے ویستلې توره وي هغه به ما لره ددغه ځایونو د تلو نه منع کوي. او بیشکه د هغے په هره یوه لاره باندے فرښتے د هغے څوکیداري کوي. بیا حضرت ﷺ خپله همسا منبر له راواچوله او اوئے فرمائیل طیبه داده. طیبه داده طیبه داده. یعنی د طیبے نه مراد مدینه منوره ده. خبردار شئ زۀ تاسو ته د هغے د حال خبر درکولے شم. صحابؤ اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل په ما د تمیم خبره ښه اولګیده چه موافق راغله د هغے کومه چه ما تاسو ته د دجال او مکے او مدینے په حال سره فرمائیله خبردار شئ

لَا بَلْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ وَأَوْمَى بِيَدِهِ إِلَى الْمَشْرِقِ قَالَتْ فَحَفِظْتُ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ولے هغه په دریائے شام یا په دریائے یمن کښې دے؟ نه بلکه هغه د مشرق په طرف دے. هغه د مشرق په طرف دے هغه د مشرق په طرف دے. (د مشرق په طرف د هند دریاب دے کېدے شي دجال د بحر هند په یوه جزیره کښې وي) او حضرت ﷺ د مشرق په طرف اشاره اوکړه. فاطمه بنت قیسؓ اووے نو دا حدیث ما د رسول الله ﷺ نه یاد اوساتلو[1].

عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ فَأَتْحَفَتْنَا بِرُطَبٍ يُقَالُ لَهُ رُطَبُ ابْنِ طَابٍ وَأَسْقَتْنَا سَوِيقَ سُلْتٍ فَسَأَلْتُهَا عَنِ الْمُطَلَّقَةِ ثَلَاثًا أَيْنَ تَعْتَدُّ قَالَتْ طَلَّقَنِي بَعْلِي ثَلَاثًا فَأَذِنَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَعْتَدَّ فِي أَهْلِي قَالَتْ فَنُودِيَ فِي النَّاسِ إِنَّ الصَّلَاةَ جَامِعَةً قَالَتْ فَانْطَلَقْتُ فِيمَنِ انْطَلَقَ مِنَ النَّاسِ قَالَتْ فَكُنْتُ فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ مِنَ النِّسَاءِ وَهُوَ يَلِي الْمُؤَخَّرَ مِنَ الرِّجَالِ قَالَتْ فَسَمِعْتُ

د شعبي نه روایت دے وائي چه مونږ د فاطمه بنت قیسؓ خواله لاړو. نو هغې مونږ ته تحفه راکړه د رطب کومې ته چه رطب ابن طاب وائي (دا د ښنو کهجورو یو مزیدار قسم دے) او د وریشو ستوان ئې په مونږه اوڅښل بیا ما د هغوی نه تپوس اوکړو چه کومو ښځو له درے طلاقه ورکړے شي هغه به چرته عدت تیر وي. هغوی اووے یعلی ما ته درے طلاقه راکړل نو رسول الله ﷺ ما ته د مور پلار په کور کښې د عدت تیرولو اجازت راکړو. وائي چه بیا په خلقو کښې آواز اوشو چه د مانځهٔ دپاره راجمع شئ نو زهٔ هم ورسره لاړمه او د ښځو په رومبی صف کښې اودریدم چه د

---

[1] اول حضرت ﷺ د دجال مقام په دریائے شام یا دریائے یمن اوفرمایهٔ بیا کېدے شي چه دغه ورته د وحی نه معلومه شوې وي چه د مشرق په طرف دے. په دے وجه ئې درے خله دا مضمون په تاکید سره اوفرمائیلو چنانچه دد ے نه علاوه په یو حدیث کښې صفا راغلي دي چه دجال به د مشرق نه راځي په بیسان او زغر دواړو ښارونو کښې چه د شام په ملك کښې او طبرستان د شام سره دے. معلوم شوه چه دجال موجود دے بالفعل او قید دے او قیامت ته نږدے به د الله په حکم رااوځي او د عیسیٰ علیه السلام په لاس به وژلے شي. (تحفة الاخیار). دا خو لوئے دجال دے چه قیامت ته نږدے به رااوځي. او د هغهٔ فتنه به عالمګیر وي. (یعنی تول دنیا فتح کونکے) لیکن د هغهٔ نه سوا ډیر دجالان واړهٔ واړهٔ په دے امت کښې تیر شوي دي. چه هغوی خلق دهوکه کړي او د نیغے لارے نه ئې اړولي دي. زمونږ په دے زمانه کښې په علي ګړه کښې یو سړے ظاهر شوے وو چه خپل ځان ته به ئې سید وئیلو او هغه هغه ګمراهي خوره کړه چه معاذ الله د قیامت، د فرښتو، د جنت او دوزخ او تولو معجزونه ئې انکار اوکړو او مسلمانانو ته ئې د نصراؤ په طریقه باند ے د چلیدو ترغیب ورکړو د حدیث شریف نه خوئې بالکل انکار اوکړو چه د اعتبار قابل نهٔ دے. او د قرآن ئې داسے تاویل اوکړو چه د تحریف نه هم بدتر دے. الله د د هغهٔ د شر نه مسلمانان اوساتي او د شریعت په پاکه او نیغه لاره د ئې قائم اولري.

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَخْطُبُ فَقَالَ إِنَّ بَنِي عَمٍّ لِتَمِيمٍ الدَّارِيِّ رَكِبُوا فِي الْبَحْرِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَزَادَ فِيهِ قَالَتْ فَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْوَى بِمِخْصَرَتِهِ إِلَى الْأَرْضِ وَقَالَ هَذِهِ طَيْبَةُ يَعْنِي الْمَدِينَةَ

سرو د آخری صف نه روستو وو ما واوریدل چه رسول الله ﷺ په منبر باندے خطبه لوستله نو اوئے فرمائیل چه د تمیم داری د ترهٔ خوئے سور شو. بیانئے بیان کړه هغه قصه کومه چه تیره شوه. په دے کښې دومره زیاته ده چه فاطمے اووےلکه چه زهٔ رسول الله ﷺ لره وینمه حضرت ﷺ خپله همسا په زمکه اووهله او اوئےفرمائیل طیبه داده یعنی مدینه.

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ قَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَمِيمٌ الدَّارِيُّ فَأَخْبَرَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ رَكِبَ الْبَحْرَ فَتَاهَتْ بِهِ سَفِينَتُهُ فَسَقَطَ إِلَى جَزِيرَةٍ فَخَرَجَ إِلَيْهَا يَلْتَمِسُ الْمَاءَ فَلَقِيَ إِنْسَانًا يَجُرُّ شَعْرَهُ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ وَقَالَ فِيهِ ثُمَّ قَالَ أَمَا إِنَّهُ لَوْ قَدْ أُذِنَ لِي فِي الْخُرُوجِ قَدْ وَطِئْتُ الْبِلَادَ كُلَّهَا غَيْرَ طَيْبَةَ فَأَخْرَجَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّاسِ فَحَدَّثَهُمْ قَالَ هَذِهِ طَيْبَةُ وَذَاكَ الدَّجَّالُ

د فاطمه بن قیس ؓ نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ خواله تمیم داری راغے. او حضرت ﷺ ته ئے خبر ورکړو. چه هغه په سمندر کښې سور شوے وو. د هغوی جهاز د لارے نه لرے شو او لاړو چه د یوے جزیرے سره اولګیدو. اوهغه د هغے دننه لاړو د اوبو په تلاش کښې. هلته ئے یو سړے اولیدهٔ چه خپل ویختهٔ ئے راښکودل. بیانئے بیان کړو تولہ قصه د حدیث. بیا وائی چه دجال اووے چه کچرے ماته اجازت د وتلو میلاؤ شو نو زهٔ به ټولو ښارونو ته ورځم علاوه د طیبے نه. بیا رسول الله ﷺ تمیم د خلقو مخے ته رااویستهٔ. هغهٔ ټوله قصه بیان کړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل طیبه داه او دجال هغه سړے دے.

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ حَدَّثَنِي تَمِيمٌ الدَّارِيُّ أَنَّ أُنَاسًا مِنْ قَوْمِهِ كَانُوا فِي الْبَحْرِ فِي سَفِينَةٍ لَهُمْ فَانْكَسَرَتْ بِهِمْ فَرَكِبَ بَعْضُهُمْ عَلَى لَوْحٍ مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ فَخَرَجُوا إِلَى جَزِيرَةٍ فِي الْبَحْرِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ

د فاطمه بنت قیس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په منبر باندے کیښناستو او اوئے فرمایل. اے خلقو! ما ته بیان کړے دے تمیم داری چه د هغه د قوم خلق په یوه کشتئ کښې وو په سمندر کښې.نو هغه کشتئ ما ته شوله. نو څهٔ خلق د هغوی نه په یوه تخته باندے سوارهٔ پاتے شو او یوے جزیرے ته لاړل. بیانئے بیان کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته تیر شو.

بَابٌ فِي بَقِيَّةٍ مِنْ أَحَادِيثِ الدَّجَّالِ

باب : د دجال په باب کښې د باقی حدیثونو بیان

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنْ بَلَدٍ إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إِلَّا مَكَّةَ وَالْمَدِينَةَ وَلَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أَنْقَابِهَا إِلَّا عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ صَافِّينَ تَحْرُسُهَا فَيَنْزِلُ بِالسِّبْخَةِ فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ ثَلَاثَ رَجَفَاتٍ يَخْرُجُ إِلَيْهِ مِنْهَا كُلُّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ

د انس بن مالك ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. یو ښار داسې نشته چه هغې ته به دجال نهٔ ځی علاوه د مکې او مدینې نه چه دد ے په هره لاره باندے به فرښتے په صفونو ولاړے وی. او څوکیداری به کوی. پس دجال به په دے زمکه کښې راکوزیږی (مدینې ته نږدے) او مدینه به درے ځله یے ساه کیږی (یعنی درے ځله به پکښې زلزله راځی) او څوك چه په دے کښې کافر یا منافق وی هغه به د دجال سره لاړ شی.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَيَأْتِي سِبْخَةَ الْجُرُفِ فَيَضْرِبُ رِوَاقَهُ وَقَالَ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ كُلُّ مُنَافِقٍ وَمُنَافِقَةٍ

انس ؓ د رسول الله ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړو. مګر په دے کښې دادی چه دجال به خپله خیمه د جُرف په خوړه ناکه زمکه کښې لګوی. او هر منافق سړے او ښځه به د هغهٔ خواله ورځی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ يَهُودِ أَصْبَهَانَ سَبْعُونَ أَلْفًا عَلَيْهِمُ الطَّيَالِسَةُ

د انس بن مالك ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. ددجال سره به ملګری کیږی د اصفهان اویازره یهودیان تورو څادرو پسر کولو والا.

عَنْ أُمِّ شَرِيكٍ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيَفِرَّنَّ النَّاسُ مِنَ الدَّجَّالِ فِي الْجِبَالِ قَالَتْ أُمُّ شَرِيكٍ يَا رَسُولَ اللهِ فَأَيْنَ الْعَرَبُ يَوْمَئِذٍ قَالَ هُمْ قَلِيلٌ

د أم شریك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه خلق به د دجال نه په غرونو کښې تختی. أم شریك اووے یا رسول اللهؐ ! د عربو خلق به په هغه ورځ چرته وی (یعنی هغه به د دجال سره مقابله ولے نهٔ کوی) حضرت ﷺ اوفرمائیل عرب به په هغه ورځو لږ وی (او د جال ملګری به ډیر وی)

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د ابن جریج نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ رَهْطٍ مِنْهُمْ أَبُو الدَّهْمَاءِ وَأَبُو قَتَادَةَ قَالُوا كُنَّا نَمُرُّ عَلَى هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ نَأْتِي عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ فَقَالَ ذَاتَ يَوْمٍ إِنَّكُمْ

د ابوالدهماء او د ابوقتاده وغیره د څو خلقو نه روایت دے. هغوی وائی چه مونږ د هشام بن عامر د مخے نه د عمران بن حصین خواله تلو. یوه ورځ هشام اووے تهٔ څما نه تیریږے او د داسے خلقو خواله

لَتُجَاوِزُونِي إِلَى رِجَالٍ مَا كَانُوا بِأَحْضَرَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنِّي وَلَا أَعْلَمَ بِحَدِيثِهِ مِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا بَيْنَ خَلْقِ آدَمَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ خَلْقٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ

خې چه هغه به خما نه زيات د رسول الله ﷺ په خوا کښې نه وی پاتے شوے نه د حضرت ﷺ په حديثو خما نه زيات پوهيږی. ما اوريدلی دی د حضرت ﷺ نه چه فرمائيلی ئے وو چه د آدم عليه السلام نه واخله د قيامته پورے يو مخلوق (په شر او فساد کښې) د دجال نه مخکښې کيدے نه شی. (د ټولو نه زيات مفسد او شرير دجال دے)

عَنْ ثَلَاثَةِ رَهْطٍ مِنْ قَوْمِهِ فِيهِمْ أَبُو قَتَادَةَ قَالُوا كُنَّا نَمُرُّ عَلَى هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ إِلَى عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ بِمِثْلِ حَدِيثِ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ مُخْتَارٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَمْرٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ

د ابوقتاده سره د دريو سړو نه روايت دے چه مونږ د عمران بن حصين خواله (د حديث د اوريدو دپاره) تلو د هشام بن عامر په خوا به تيريدو ځنګه چه د عبد العزيز بن مختار په حديث کښې تير شو. مگر هغهٔ اووے چه د دجال نه هم لويه خبره شته.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ سِتًّا طُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا أَوِ الدُّخَانَ أَوِ الدَّجَّالَ أَوِ الدَّابَّةَ أَوْ خَاصَّةَ أَحَدِكُمْ أَوْ أَمْرَ الْعَامَّةِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. تادی کوئ د نيک عملونو. مخکښې د شپږو څيزونو نه يو دجال، دويم لوګے، دريم د زمکے ځناور، څلورم د مغرب د طرفنه د نمر راختل، پنځم قيامت. شپږم مرګ (يعنی هرکله چه دا خبرے راشی نو د نيکو عملونو به قابو ختميږی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ سِتًّا الدَّجَّالَ وَالدُّخَانَ وَدَابَّةَ الْأَرْضِ وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَأَمْرَ الْعَامَّةِ وَخُوَيْصَّةَ أَحَدِكُمْ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. د شپږو څيزونو د ښکاره کيدو نه مخکښې مخکښې (نيک) اعمال کوئ دجال، لوګے، د زمکے ځناور، د مغرب نه د نمر راختل. او قيامت او په تاسو کښې د يو مرګ

عَنْ قَتَادَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د قتادهؓ نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے.

بَابُ فَضْلِ الْعِبَادَةِ فِي الْهَرْجِ

باب: د فساد په وخت د عبادت کولو فضيلت

عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعِبَادَةُ فِي الْهَرْجِ كَهِجْرَةٍ

د معقل بن يسارؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. د فساد او فتنے په وخت په عبادت کولو کښې ثواب دومره دے لکه

لى الله عليه وسلم
شرار الناس
لساعة
النبي صلى الله
التي تلي الإبهام
أنا والساعة هكذا
قال رسول الله
بعثت أنا والساعة
سمعت قتادة يقول
اهما على الأخرى
أو قاله قتادة
ل الله صلى الله عليه
عة هكذا وقرن شعبة
سطى يحكيه
الله عليه وسلم بهذا
لى الله عليه وسلم
ول الله صلى الله
الساعة كهاتين قال

خما سره په هجرت كولو كښې

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل قيامت به نه قائميږي مګر په هغه خلقو باندے چه هغه بدتروى

باب : د قيامت نزدے كيدل

د سهيل رضی الله عنه نه روايت دے وائي چه ما واوريدل د رسول الله ﷺ نه چه اشاره ئے كوله په هغه ګوته چه نزدے ده غټے ګوتے او د مينځ ګوتے ته اوفرمائيل ئے زه اوليږلے شوے يم زه او قيامت په دے شان سره[1]

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى زه او قيامت په دے شان راليږلى شوى يو لكه دا دواړه ګوتے. شعبه وائي ما د قتاده نه اوريدلى دى هغه به په خپلو قصو كښې وئيل لكه چه يوه ګوته د بلے نه لويه ده. اوس زه نه پوهيږم چه دا قتاده د انس رضی الله عنه نه اوريدلى دى يائے په خپل زړه سره وئيلى دى.

انس رضی الله عنه حديث بيانوو چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه زه او قيامت داسے راليږلى شوى يو او شعبه د شهادت ګوته او د مينځ ګوته يو ځائے اوښودلے.

انس رضی الله عنه د نبى ﷺ نه د پورتنى حديث پشان روايت كړے دے.

انس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د پورتنو راويانو د حديث پشان روايت كړے دے.

د انس رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه زه او قيامت د دے دواړو ګوتو پشان راليږلى شوى يو. انس رضی الله عنه اووئيل چه حضرت د

---

[1] ... او قيامت كښې د چا بل نبى شريعت فاصل نه دے لكه چه د مينځ د ګوتے او د دے ګوتے په مينځ كښې ... خما شريعت هم د ټولو شريعتونو نه آخر دے. او خما دين د ټولو دينونو نه روستو دے. د دے نه پس بيا

وَضَمَّ السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطَى

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ الْأَعْرَابُ إِذَا قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلُوهُ عَنِ السَّاعَةِ مَتَى السَّاعَةُ فَنَظَرَ إِلَى أَحْدَثِ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ فَقَالَ إِنْ يَعِشْ هَذَا لَمْ يُدْرِكْهُ الْهَرَمُ قَامَتْ عَلَيْكُمْ سَاعَتُكُمْ

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَتَى تَقُومُ السَّاعَةُ وَعِنْدَهُ غُلَامٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ مُحَمَّدٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ يَعِشْ هَذَا الْغُلَامُ فَعَسَى أَنْ لَا يُدْرِكَهُ الْهَرَمُ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَتَى تَقُومُ السَّاعَةُ قَالَ فَسَكَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُنَيْهَةً ثُمَّ نَظَرَ إِلَى غُلَامٍ بَيْنَ يَدَيْهِ مِنْ أَزْدِ شَنُوءَةَ فَقَالَ إِنْ عُمِّرَ هَذَا لَمْ يُدْرِكْهُ الْهَرَمُ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ قَالَ قَالَ أَنَسٌ ذَاكَ الْغُلَامُ مِنْ أَتْرَابِي يَوْمَئِذٍ

عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَرَّ غُلَامٌ لِلْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ وَكَانَ مِنْ أَقْرَانِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ يُؤَخَّرْ هَذَا فَلَنْ يُدْرِكَهُ الْهَرَمُ

کلمے او د مینځ گوته میلاؤ کړه.

د ام المؤمنين حضرت عائشے نه روايت دے چه بانډه چي چه به هر کله د رسول الله ﷺ خواله راغلۀ نو د قيامت په باره کښې به ئے تپوس کوو چه قيامت کله دے؟ حضرت به په هغوی کښې کم عمر والا ته اوکتل او اوبه ئے فرمائيل کۀ چرے دے ژوندے وو نو لا بډها شوے به نۀ وی چه په تا به قيامت راشي (خکه چه قيامت هغه دے چه تۀ مړ شے مراد ترے قيامت صغرىٰ دے او هغه مرگ دے)

د انس نه روايت دے چه يو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه قيامت به کله راځي. دغه وخت د حضرت ﷺ په خواه کښې يو انصاری هلك موجود وو چه هغۀ ته به ئے محمد وئيلو. حضرت ﷺ اوفرمائيل کچرے دے ژوندے وو نو لا بډها شوے به نۀ وی چه قيامت به راشي[1].

د انس بن مالك نه روايت دے چه يو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه قيامت به کله وی؟ حضرت د څۀ وخته پورے خاموش پاتے شو. بيا د حضرت ﷺ په مخکښې يو ماشوم هلك ناست وو د ازد قبيلے وو چه د شنوءه شاخ دے. حضرت ﷺ د هغۀ په طرف اوکتل او اوئے فرمائيل کچرے دے بچی له عمر ورکړے شو نو دے به لا بډها شوے به نۀ وی چه ستا قيامت به راشي. انس وائی دا هلك په هغه ورځ ما په همزولو کښې وو.

د انس نه روايت دے وائی چه د مغيره بن شعبه يو معشوم تير شو په مونږ بادنے چه زمونږ همزولے وو. پس رسول الله ﷺ اوفرمائيل کچرے دے ژوندے پاتے شو نو بوډا شوے به لا نۀ وی چه قيامت

[1] مراد دد ے قيامت نه قيامت صغرىٰ دے (يعني مرگ) خکه چه د قيامت کبرىٰ وخت د الله نه بغير بل چا ته معلوم نۀ دے

حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ

به راشي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَقُومُ السَّاعَةُ وَالرَّجُلُ يَحْلُبُ اللِّقْحَةَ فَمَا يَصِلُ الْإِنَاءُ إِلَى فِيهِ حَتَّى تَقُومَ وَالرَّجُلَانِ يَتَبَايَعَانِ الثَّوْبَ فَمَا يَتَبَايَعَانِهِ حَتَّى تَقُومَ وَالرَّجُلُ يَلِطُ فِي حَوْضِهِ فَمَا يَصْدُرُ حَتَّى تَقُومَ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل قيامت به قائميږي او حالانکه سړے به اوبنه لوشي نو نه به وي رسيدلے لوښے د هغهٔ خُلے ته چه قيامت به راشي. او دوه سړي به د کپړے اغستل او خرڅول کوي نو دوي به د اغستلو خرڅولو نه اوزګار شوي نه وي چه قيامت به راشي. او يو سړے به خپل حوض صحيح کوي نو دے به لا د صحيح کول و نه واپس شوے نه وي چه قيامت به راشي.

بَابُ مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ

باب : د شپيلئ په دوارو پوکو کښې څومره فاصله به وي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ قَالُوا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَرْبَعُونَ يَوْمًا قَالَ أَبَيْتُ قَالُوا أَرْبَعُونَ شَهْرًا قَالَ أَبَيْتُ قَالُوا أَرْبَعُونَ سَنَةً قَالَ أَبَيْتُ ثُمَّ يُنْزِلُ اللهُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيَنْبُتُونَ كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ قَالَ وَلَيْسَ مِنَ الْإِنْسَانِ شَيْءٌ إِلَّا يَبْلَى إِلَّا عَظْمًا وَاحِدًا وَهُوَ عَجْبُ الذَّنَبِ وَمِنْهُ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي د شپيلئ د دوارو پوکو په مينځ کښې به د څلويښتو فرق وي. خلقو اووے اے ابوهريرهؓ ! د څلويښتو ورځو؟ هغوي اووے زهٔ نهٔ وايم. بيا خلقو اووے د څلويښتو مياشتو؟ هغوي اووے زهٔ نهٔ وايم. بيا خلقو اووے د څلويښتو کالو؟ هغوي اووے زهٔ نهٔ وايم. (يعنى ما ته د هغے تعين معلوم نهٔ دے.) بيا به د آسمان نه څهٔ اوبهٔ اووريږي. په هغے سره به خلق داسے راټوکيږي. لکه څنګه چه شينکي راټوکيږي. هغوي اووے د بنيادم په بدن کښې يو څيز داد ے نشته چه هغه ويلي نهٔ شي مګر يو هډو کښې چه هغه د ريړهٔ يعنى مُهرے هډوکے دے. ددغه هډوکي نه به د قيامت په ورځ خلق پيدا کيږي. (نووي وائي دد ے پيغمبران مستثنى دي د هغوي بدنونه الله په زمکه باندے حرام کړي دي)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ ابْنِ آدَمَ يَأْكُلُهُ التُّرَابُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي ټول بدن لره زمکه خوري سوا د توتي د هډوکي نه دد ے نه بنيادم مخکښې جوړ

إِلاَّ عَجْبَ الذَّنَبِ مِنْهُ خُلِقَ وَفِيهِ يُرَكَّبُ

شو دے. او هم د دے نه به بیا دوباره جوړ کړے شي[1]

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ فِي الْإِنْسَانِ عَظْمًا لَا تَأْكُلُهُ الْأَرْضُ أَبَدًا فِيهِ يُرَكَّبُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالُوا أَيُّ عَظْمٍ هُوَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ عَجْبُ الذَّنَبِ

د ابوهريرة نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه د بنده په بدن کښ يو هډوکے دے چه هغه زمکه نۀ خوري د دغې نه به جوړيږي د قيامت په ورځ. خلقو عرض اوکړو هغه کوم هډوکے دے يا رسول الله. حضرت ﷺ اوفرمائيل د لکه مني.

[1] عجب الذنب هغه هډوکی ته ونیلے شي د کوم خائے نه چه د خناور لکۍ راخیژي. د بنده په بدن کښ دغه خائے ته لکه منے ونیلے شي نو اونے فرمائيل چه د بنده بدن به ټول په خاوره کښ ويلي کيږي مگر لکه منے نۀ ويلي کيږي د بنده پيدائش په ګيډه کښ اول د هغه خائے نه پيدا کيږي او په قيامت کښ هم د دغه هډوکی نه بيا ترکيب شروع شي. د ټول بدن خاوره به هلته متصل شي لکه څنګه چه د بن مخکښ وو داسے به بيا تيار شي. او دا چه نے کوم فرمائيلي دي چه لکه منے نۀ ويلي کيږي يا خو به ټول نۀ ويلي کيږي يا به د هغے باريک اجزاء اصليه نۀ ويلي کيږي اګر کۀ غير اصلي اجزاء ويلي شي. (تحفة الاخيار)

كِتَابُ الزُّهْدِ

د دُنیا نه د نفرت پیدا کولو حدیثونو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ

د ابوهریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دنیا د مؤمن دپاره قید خانه او د کافر دپاره جنت دے[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِالسُّوقِ دَاخِلًا مِنْ بَعْضِ الْعَالِيَةِ وَالنَّاسُ كَنَفَتَهُ فَمَرَّ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ فَتَنَاوَلَهُ فَأَخَذَ بِأُذُنِهِ ثُمَّ قَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنَّ هٰذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ فَقَالُوا مَا نُحِبُّ أَنَّهُ لَنَا بِشَيْءٍ وَمَا نَصْنَعُ بِهِ قَالَ أَتُحِبُّونَ أَنَّهُ لَكُمْ قَالُوا وَاللهِ لَوْ كَانَ حَيًّا كَانَ عَيْبًا فِيهِ لِأَنَّهُ أَسَكُّ فَكَيْفَ وَهُوَ مَيِّتٌ فَقَالَ فَوَاللهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ هٰذَا عَلَيْكُمْ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د عالیے د طرف نه (عالیه د مدینے به بهر په اوچته یو کلے دے) مدینے ته راتلو. او خلق د حضرت ﷺ نه یو طرف یا دواړه طرفته وو. حضرت ﷺ یو د شرمخ بچے ورو غوږونو والا مړ اولیدهٔ. د هغهٔ غوږ ئے اونیوو او اوئے فرمائیل ستاسو نه څوك دا په یو درم باندے اخلی. خلقو عرض اوکړو چه مونږ دا په یو شی هم اخستل نهٔ غواړو (یعنی د هیڅ په بدله) او مونږ به په دے څهٔ کوؤ؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو غواړئ چه دا د تاسو ته میلاؤ شی. خلقو اووے په الله قسم دے کهٔ چرے دے ژوندے هم وے بیا هم په دے کښې عیب وو چه غوږو نه ئے ډیر واړهٔ دی. بیا مړ به دے څوك واخلی. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل په الله قسم دے چه دُنیا د الله په نزد دے نه هم زیاته ذلیله ده لکه څنګه چه دے ستاسو په نزد زیات ذلیله دے.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ الثَّقَفِيِّ فَلَوْ كَانَ

جابر د رسول الله ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړو مګر د ثقفی په حدیث کښې دی کهٔ چرے دا ژوندے هم وے نو واړهٔ

[1] مسلمان خومره هم چه په عیش کښې وی مګر د کافر پشان عیش نهٔ شی کولے. د کافر په نزد حرام حلال، د عباداتو مشقت، د انجام فکر وغیره هیڅ نشته او په مسلمان باندے دا ټول محتنونه وی په مسلمان باندے د حشر د عذاب یره ده فکر د معیشت دے. هلته د حشر یره البته مسلمان چه هر کله د دنیا نه آزاد شی او د قبر او حشر نه تیر شی جنت ته لاړ شی نو دغه وخت به ورته اطمینان حاصل شی نو خکه دنیا د مؤمن قید خانه ده او دکومے پورے چه ایمان قوی وی تر هغے پورے به ورته په دنیا کښې اوسیدل بد معلومیږی او د آخرت شوق به ئے زیات وی

حَيًّا كَانَ هٰذَا السَّكَكُ بِهِ عَيْبًا

غوږونه به ددهٔ یو عیب وے.

عَنْ مُطَرِّفٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقْرَأُ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ قَالَ يَقُولُ ابْنُ آدَمَ مَالِي مَالِي قَالَ وَهَلْ لَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مِنْ مَالِكَ إِلَّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ أَوْ تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ

د مطرف نه روایت دے هغوی اوریدلی دی د خپل پلار نه هغوی ونیل چه زهٔ د رسول الله ﷺ خواله راغلم حضرت ﷺ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ لوستلو. حضرت ﷺ اوفرمائیل بنیادم وائی مال ځما مال ځما او اے بنیادمه ستا مال څهٔ دے. ستا مال هغه دے څهٔ چه تا اوخوړو او فنا دِ کړو یا دِ واغوستو او زوړ دِ کړو یا دِ صدقه کړو او تیر شو[1].

عَنْ مُطَرِّفٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ هَمَّامٍ

مطرف د خپل پلار نه روایت کوی هغهٔ اووے چه زهٔ د رسول الله ﷺ خواله اورسیدم. بیائے حدیث بیان کړو د همام د حدیث پشان.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ الْعَبْدُ مَالِي مَالِي إِنَّمَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ مَا أَكَلَ فَأَفْنَى أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَى وَمَا سِوَى ذٰلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. بنیادم وائی ځما مال ځما مال حالانکه ددهٔ مال درے څیزونه دی. څهٔ چه ئے اوخوړل او فنا ئے کړل او څهٔ چه واغوستل او زوړ ئے کړو. او څهٔ چه ئے د الله په لاره کښې ورکړو او جمع ئے کړو. ددے نه علاوه خو هغه تلونکے دے او مال پاتے کیدونکے دے د خلقو دپاره.

عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د علاء بن عبدالرحمٰن نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى وَاحِدٌ يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د مړی سره درے څیزونه ځی (د قبر پورے) دوه ترے واپس راځی او دریم ورسره پاتے کیږی. د هغهٔ وارثان، مال، او عمل. نو وارثان او مال ترے واپس راځی او یو ورسره عمل پاتے کیږی (پس رفاقت پوره عمل کوی. ددغے دپاره انسان له کوشش کول پکار دی. او خامن بال بچ او مال دولت دا ټول د ژوندہ پورے ملګری دی د مرګ نه پس د څهٔ کار نهٔ دی. ددے سره زړهٔ لګول بے عقلی ده)

---

[1] او څهٔ چه دِ پریخودهٔ هغهٔ ستا مال نهٔ دے بلکه ستا د وارثانو دے یا که وارث نهٔ وی نو د تعلق دارو دے. افسوس دے چه انسان مال ګټی دومره محنت او مشقت کوی او مزے به نور کوی. لازمه ده چه تاسو ښه اوخورئ او ښنبئ، واغوندئ او د الله په لاره کښې ئے ورکړئ په دوستانو او عزیزانو ئے اوخوره وئ په دے دپاسه که څهٔ بچ پاتے شی هغه که وارثان واخلی نو خیر دے.

عَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ وَهُوَ حَلِيفُ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ إِلَى الْبَحْرَيْنِ يَأْتِي بِجِزْيَتِهَا وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ صَالَحَ أَهْلَ الْبَحْرَيْنِ وَأَمَّرَ عَلَيْهِمُ الْعَلَاءَ بْنَ الْحَضْرَمِيِّ فَقَدِمَ أَبُو عُبَيْدَةَ بِمَالٍ مِنَ الْبَحْرَيْنِ فَسَمِعَتِ الْأَنْصَارُ بِقُدُومِ أَبِي عُبَيْدَةَ فَوَافَوْا صَلَاةَ الْفَجْرِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ فَتَعَرَّضُوا لَهُ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ رَآهُمْ ثُمَّ قَالَ أَظُنُّكُمْ سَمِعْتُمْ أَنَّ أَبَا عُبَيْدَةَ قَدِمَ بِشَيْءٍ مِنَ الْبَحْرَيْنِ فَقَالُوا أَجَلْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَأَبْشِرُوا وَأَمِّلُوا مَا يَسُرُّكُمْ فَوَاللهِ مَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ وَلَكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ الدُّنْيَا عَلَيْكُمْ كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ

د عمرو بن عوفؓ نه روایت دے چه هغه د بدر په جنګ کښې د رسول الله ﷺ سره وو چه رسول الله ﷺ ابوعبیده بن الجراح لره د بحرین په طرف د جزیے رواړو دپاره اولیږو. او حضرت ﷺ صلح کړے وه د بحرین والاؤ سره. او علاء بن حضرمی ئے پرے حاکم ګرځے وو. بیا ابوعبیده هغه مال راوړو او د بحرین نه راغے. دا خبر انصارو ته اورسیدو. هغوی د سحر مونځ په رسول الله ﷺ پسے اوکړو. هر کله چه حضرتؐ د مانځۀ نه فارغ شو نو انصار د هغوی مخے ته راغلل. حضرت ﷺ د هغوی په لیدو نرئ خندا اوفرمائیله او اوئے فرمائیل څما خیال دے چه تاسو اوریدلی دی چه ابوعبیده د بحرین نه څۀ مال راوړے دے (او تاسو په دے حال سره نن جمع شوئ چه مال به میلاؤ شی) هغوی اووے بیشکه یا رسول اللهؐ حضرت ﷺ اوفرمائیل خوشحاله شئ او اُمید ساتئ د هغے خبرے چه په هغے سره به خوشحاله شئ. نو په اللهؐ قسم دے چه په فقیرئ کښې څما پتاسو باندے یره نشته. لیکن ما ته ددے یره ده چه کچرے دنیا په تاسو باندے فراخه شی لکه چه ستاسو نه مخکښې په خلقو باندے فراخه شوے وه. او بیا د یو بل سره حسد شروع کړئ لکه چه مخکښې خلقو حسد کړے وو. او هلاك به کړی تاسو لره لکه چه دوی هلاك شوی وو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ يُونُسَ وَمِثْلِ حَدِيثِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ صَالِحٍ وَتُلْهِيَكُمْ كَمَا أَلْهَتْهُمْ

د زهریؒ نه د یونس په اسناد سره روایت دے. او حدیث هم دغسے دے مګر د صالحؒ په حدیث کښې دی چه هغه به تاسو غافل کړی څنګه ئے چه مخکښینی خلق غافل کړی وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ قَالَ إِذَا فُتِحَتْ عَلَيْكُمْ

د عبد الله بن عمرو بن عاصؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هر کله چه فارس او روم فتح شی نو تاسو به څۀ شئ؛

فَارِسُ وَالرُّومُ أَيُّ قَوْمٍ أَنْتُمْ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ نَقُولُ كَمَا أَمَرَنَا اللهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَوْ غَيْرَ ذَلِكَ تَتَنَافَسُونَ ثُمَّ تَتَحَاسَدُونَ ثُمَّ تَتَدَابَرُونَ ثُمَّ تَتَبَاغَضُونَ أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ ثُمَّ تَنْطَلِقُونَ فِي مَسَاكِينِ الْمُهَاجِرِينَ فَتَجْعَلُونَ بَعْضَهُمْ عَلَى رِقَابِ بَعْضٍ

يعنى كوم قوم به شئ. عبد الرحمن بن عوف اووے مونږ هغه وايو د څه چه الله مونږ ته حکم کړے دے (يعنى د هغهٔ شکر به کوو) رسول الله ﷺ اوفرمائيل نور څه به نهٔ وايئ. پسخيږئ به، بيا به حسد کوئ، بيا به ورانه کړئ د دوستانو سره، بيابه دشمنى کوئ يا دغسے څهٔ ئے اوفرمائيل. بيا به د مسکينو مهاجرينو خواله څئ او يو به د نورو حکم جوړوئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ إِلَى مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِي الْمَالِ وَالْخَلْقِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ مِمَّنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى هر كله چه خوك ستاسو نه اووينى بل لره غوره د ځانه په مال او صورت كښې نو هغه له پكار دى چه اوګورى د ځان نه كم ته په مال او په صورت كښې (ددے دپاره چه د الله شكر پيدا شى او په علم او تقوىٰ كښې د ځانه اوچت ته اوګورى)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي الزِّنَادِ سَوَاءً

ابوهريرهؓ د نبى ﷺ نه بالكل د ابوالزناد د حديث پشان حديث روايت كړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْظُرُوا إِلَى مَنْ أَسْفَلَ مِنْكُمْ وَلَا تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ فَهُوَ أَجْدَرُ أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللهِ قَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ عَلَيْكُمْ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. هغه سړى ته ګورئ كوم چه ستاسو نه كم دے (په ملك او دولت او حُسن وجمال او بال بچ كښې) هغه چا ته مهٔ ګورئ چه ستاسو نه زيات وى. كچرے داسے كوئ نو د الله تعالى نعمت د په خپل ځان كم نهٔ ګنړئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ ثَلَاثَةً فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ أَبْرَصَ وَأَقْرَعَ وَأَعْمَى فَأَرَادَ اللهُ أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مَلَكًا فَأَتَى الْأَبْرَصَ فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ لَوْنٌ حَسَنٌ وَجِلْدٌ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه فرمائيلى ئے وو. په بنى اسرائيلو كښې درے تنه سړى وو. يو برصى سپينو داغونو والا، دويم ګنجے، دريمړوند. پس الله ﷻ په هغوى د ازمائش اراده اوغوښته او هغوى ته ئے يوه فرښته رااوليږله هغه فرښته رومبى سپينو داغونو والاته راغله او ورته ئے اووے تا ته څهٔ شى ډير خوږ دے؟ هغهٔ اووے ښهٔ رنګ او ښهٔ څرمن او چه دا بيمارى زمانه لرے شى دكومې په

حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّي الَّذِي قَدْ قَذِرَنِي
النَّاسُ قَالَ فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ قَذَرُهُ
وَأُعْطِيَ لَوْنًا حَسَنًا وَجِلْدًا حَسَنًا قَالَ
فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْإِبِلُ أَوْ
قَالَ الْبَقَرُ شَكَّ إِسْحٰقُ إِلَّا أَنَّ الْأَبْرَصَ
أَوِ الْأَقْرَعَ قَالَ أَحَدُهُمَا الْإِبِلُ وَقَالَ
الْآخَرُ الْبَقَرُ قَالَ فَأُعْطِيَ نَاقَةً عُشَرَاءَ
فَقَالَ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِيهَا قَالَ فَأَتَى
الْأَقْرَعَ فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ
قَالَ شَعَرٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّي هٰذَا
الَّذِي قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ قَالَ فَمَسَحَهُ
فَذَهَبَ عَنْهُ وَأُعْطِيَ شَعَرًا حَسَنًا قَالَ
فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْبَقَرُ
فَأُعْطِيَ بَقَرَةً حَامِلًا فَقَالَ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ
فِيهَا قَالَ فَأَتَى الْأَعْمٰى فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ
أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ أَنْ يَرُدَّ اللّٰهُ إِلَيَّ بَصَرِي
فَأُبْصِرَ بِهِ النَّاسَ قَالَ فَمَسَحَهُ فَرَدَّ اللّٰهُ
إِلَيْهِ بَصَرَهُ قَالَ فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ
إِلَيْكَ قَالَ الْغَنَمُ فَأُعْطِيَ شَاةً وَالِدًا
فَأُنْتِجَ هٰذَانِ وَوَلَّدَ هٰذَا قَالَ فَكَانَ لِهٰذَا
وَادٍ مِنَ الْإِبِلِ وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْبَقَرِ
وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْغَنَمِ قَالَ ثُمَّ إِنَّهُ أَتَى
الْأَبْرَصَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ فَقَالَ

وجه چه خلق خمانه کرکه کوی حضرت ﷺ لوفرمائیل چه فرښتے په هغهٔ باندے لاس راښکو نو د هغهٔ نه هغه بیماری لرے شوه او ښکلے رنگ او ښهٔ څرمن ورته ورکړے شوه. بیا ورته فرښتے اووے چه کوم مال تا ته ډیر غوره دے؟ هغهٔ اووے اوښان یا غواګانے. اسحٰق بن عبد اللهؒ د دے حدیث راوی ته شك دے چه هغه اوښان او غوښتل یا غواګانے. لیکن سپینو داغونو والا یا ګنجی په دے دواړو کښې یو اوښ اووے بل غواګانے. نو هغهٔ له ئے د لسو میاشتو بلاربه اوښه ورکړه. او ورته ئے اووے خدائے تعالی دِ ستا دپاره په دے کښې برکت واچوی. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه بیا فرښته د ګنجی خواله راغله او ورته ئے اووے ته څهٔ شے زیات غوښې وے؟ هغهٔ اووے ښهٔ ویښته او چه دا بیماری خما نه لرے شی د کومے په وجه چه زهٔ خلقو ته بد ښکاریږمه پس هغه فرښتے په هغه لاس راښکو او هغه بیماری ئے لرے شوه. او ښهٔ ویښتهٔ ورته میلاؤ شو. بیا ورته فرښتے اووے چه څهٔ مال تا ته خوښ دے. هغهٔ اووے چه غواګانے. نو هغهٔ ته بلاربه غوا ورکړے شوه او فرښتے ورته اووے اللهٔ دِ ستا په مال کښې برکت کړی. حضرت ﷺ فرمائیلی دی چه بیا هغه فرښته د هغه ړوند خواله راغله او ورته ئے لووے تا ته څهٔ شے ډیر غوره دے؟ هغهٔ اووے کهٔ الله تعالی خما سترګے روښانه کړے چه زهٔ د هغے په سبب خلق اووینم. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه بیا هغے فرښتے په هغهٔ باندے لاس راښکود نو خدائے د هغهٔ سترګے روښانه کړے. بیا ورته فرښتے اووے چه تهٔ کوم مال غوره کوے؟ هغهٔ اووے ګډے بزے نو هغهٔ ته بلاربے بزے میلاؤ شوے. پس اوښے، غواګانے او بزے اوزیږیدے. بیا کیده کیده د سپینو داغونو والا ځنګل د اوښانو ډك شو. او د ګنجی ځنګل د غواګانو او غوایانو ډك شو او د ړوند ځنګ د ګډو بزو ډك شو

رَجُلٌ مِسْكِينٌ قَدِ انْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي فَلَا بَلَاغَ لِي الْيَوْمَ إِلَّا بِاللهِ ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ بِالَّذِي أَعْطَاكَ اللَّوْنَ الْحَسَنَ وَالْجِلْدَ الْحَسَنَ وَالْمَالَ بَعِيرًا أَتَبَلَّغُ عَلَيْهِ فِي سَفَرِي فَقَالَ الْحُقُوقُ كَثِيرَةٌ فَقَالَ لَهُ كَأَنِّي أَعْرِفُكَ أَلَمْ تَكُنْ أَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ فَقِيرًا فَأَعْطَاكَ اللهُ فَقَالَ إِنَّمَا وَرِثْتُ هٰذَا الْمَالَ كَابِرًا عَنْ كَابِرٍ فَقَالَ إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللهُ إِلَى مَا كُنْتَ قَالَ وَأَتَى الْأَقْرَعَ فِي صُورَتِهِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِهٰذَا وَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَ مَا رَدَّ عَلَى هٰذَا فَقَالَ إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللهُ إِلَى مَا كُنْتَ قَالَ وَأَتَى الْأَعْمَى فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ فَقَالَ رَجُلٌ مِسْكِينٌ وَابْنُ سَبِيلٍ انْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي فَلَا بَلَاغَ لِي الْيَوْمَ إِلَّا بِاللهِ ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ بِالَّذِي رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ شَاةً أَتَبَلَّغُ بِهَا فِي سَفَرِي فَقَالَ قَدْ كُنْتُ أَعْمَى فَرَدَّ اللهُ إِلَيَّ بَصَرِي فَخُذْ مَا شِئْتَ وَدَعْ مَا شِئْتَ فَوَاللهِ لَا أَجْهَدُكَ الْيَوْمَ شَيْئًا أَخَذْتَهُ لِلَّهِ فَقَالَ أَمْسِكْ مَالَكَ فَإِنَّمَا ابْتُلِيتُمْ فَقَدْ رَضِيَ عَنْكَ وَسَخِطَ عَلَى

حضرت ﷺ اوفرمائیل. څۀ موده پس هغه فرښته د سپینو داغونو والا خواله په خپل هغه رومبی شکل کښ راغله او ورته ئے اووے چه زۀ محتاج سړے یم په سفر کښ مے ټول اسباب ختم شوی دی (یعنی تدبیرونه مے ناکامه شوی دی او مال اسباب مے پاتے نۀ دے) نو منزل ته د رسیدو خما څۀ امکان نشته علاوه د الله د کرم نه او علاوه ستا نه چه زۀ غوارم ستا نه د هغه ذات په نوم باندے چه هغه تاله پاک رنګ صفا څرمن او مال او اوښان درکړی دی یو اوښ چه خما په سفر کښ بکار راشی. هغۀ اووے د خلقو حق ءما باندے ډیر دے (قرض دارے یم یا د کور د خرچ نه مے مال زیات نۀ دے چه تاله ئے درکړم) بیا فرښتے اووے خامخا زۀ پیژنم تالره. ښه اے تۀ محتاجه برګے نۀ وے چه خلقو به درنه کرکه کوله بیا خدائے په خپل فضل سره تالره دا مال درکړو. هغۀ اووے چه دا مال خو ما ته د پلار نیکۀ میراث پاتے دے چه د څو پیړو نه غټ سړی وو (مالدار وو). فرښتے اووے کچرے تۀ دروغ وائے نو الله دِ بیا داسے کړه لکه څنګه چه مخکښ وے. حضرت ﷺ اوفرمائیل. بیا هغه فرښته د ګنجی خواله راغله په خپل هغه رومبی شکل او صورت کښ. او هغۀ ته ئے هم هغه شان اووے لکه څنګه چه ئے سپینو داغونو والا ته وئیلی وو. هغۀ هم د سپینو داغونو والا پشان جواب ورکړو. فرښتے هغۀ ته هم اووے کچرے تۀ دروغ وائے نو خدائے دِ هم هغسے کړه لکه څنګه چه مخکښ وے. حضرت ﷺ فرمائی بیا فرښته د ړوند خواله لاړه په خپل هغه رومبی شکل او صورت کښ او ورته ئے اووے چه زۀ محتاج او مسافر بنیادم یم په سفر کښ مے ټول تدبیرونه او وسیلے ختمے شوی دی. ما ته نن منزل ته رسیدل د الله د مدد او ستاسو د کرم نه بغیر مشکل دی نو زۀ ستا نه د هغه خدائے په نوم باندے چا چه تاله سترګے درکړی دی یوه بزه غوارم چه

صَاحِبَيْكَ

هغه خما په سفر کښې ټکار راشي هغه لوږې بيشکه زه روند وم خدائې ماله سترګې راکړې دي نو بوخه دد ےبزونه خومره چه ستا زړه غوارۍ او پريږده دد ے بزونه کومې چه ستا زړه غوارۍ په خدائې قسم د ے نن چه څه څيز ته د خدائې په لاره کښې اخلې نو زه تا نه منع کوم (يعنې ستا لاس نه نيسم) بيا فرښتې اووے خپل مال د اونيسه دا پتاسو دريوارو ازمائش وو په تحقيق سره خدائې تعالى ستا نه راضي شو او ستا د دواړو ملګرو نه ناراضه شو[1].

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ كَانَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فِي إِبِلِهِ فَجَاءَهُ ابْنُهُ عُمَرُ فَلَمَّا رَآهُ سَعْدٌ قَالَ أَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شَرِّ هٰذَا الرَّاكِبِ فَنَزَلَ فَقَالَ لَهُ أَنَزَلْتَ فِي إِبِلِكَ وَغَنَمِكَ وَتَرَكْتَ النَّاسَ يَتَنَازَعُونَ الْمُلْكَ بَيْنَهُمْ فَضَرَبَ سَعْدٌ فِي صَدْرِهِ فَقَالَ اسْكُتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ الْغَنِيَّ الْخَفِيَّ

د عامر بن سعدؓ نه روايت د ے وائي چه سعد بن ابي وقاصؓ په خپلو اوښانو کښې وو چه په د ے کښې د هغه خوئ عمر راغې (دا عمر بن سعد هغه د ے کوم چه د امام حسينؓ سره اوجنګيدو او د دنيا دپاره ئې خپل آخرت برباد کړو) هر کله چه سعد دۀ لره اوليدۀ نو اوئې وئيل چه پناه غوارم په الله سره دد ے سور د شر نه بيا هغه راکوز شو او اوئې وئيل ته په خپلو اوښانو او بزو کښې ناست ئې او خلق د پريخود ے د ے هغه د حکومت دپاره جهګړ ے کوي سعد هغه په سينه باند ے اووهو او ورته ئې اووے چُپ شه ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئې وو بيشکه الله خوښوي بنده پرهيزګار، مالدار، او پټ ناست لره په يو ګوټ کښې (د فساد او فتنې په وخت او د دنيا دپاره چه خپل ايمان نه خرابوي افسوس د ے چه عمر بن سعد د خپل پلار نصيحت خاموش کړو. او د دنيا په طمعه ئې آخرت اوبائيلو. نوويؒ وائي د مالدار نه دا مراد د ے چه زړۀ د هغۀ غني وي او قاضيؒ وئيلي دي د مالدار نه ظاهري معنى مراد ده)

[1] په د ے حديث کښې د شکر ګزار او ناحق شناس بنده بيان د ے بلکه کۀ غور اوکړ ے شي نو دا حديث د ټول عالم په حال کښې د ے يعنې زمونږ د ټولو خلقو په اول کښې څۀ حقيقت نه وو جان ، مال ، صحت، علم ، حکومت محض د هغۀ په کرم سره ټولو ته ميلاؤ دي نو څوک چه هوښيار د ے هغه په خپل حقيقت او د الله د کرم قصداً شکر ګزار د ے. او څوک چه احمق د ے هغه خپل حقيقت او د الله کرم هير کړي په خپله سليقه او تدبير او خاندانې وجاهت باندې غرور کوي هغه د الله نه لرې د ے. (تحفة الاخيار)

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ وَاللهِ إِنِّي لَأَوَّلُ رَجُلٍ مِنَ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَقَدْ كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَنَا طَعَامٌ نَأْكُلُهُ إِلَّا وَرَقُ الْحُبْلَةِ وَهٰذَا السَّمُرُ حَتَّى إِنَّ أَحَدَنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ ثُمَّ أَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ تُعَزِّرُنِي عَلَى الدِّينِ لَقَدْ خِبْتُ إِذًا وَضَلَّ عَمَلِي وَلَمْ يَقُلْ ابْنُ نُمَيْرٍ إِذًا

د سعد بن ابی وقاص ؓ نه روایت دے وائی چه په الله قسم دے زهٔ رومبے سړے یم چا چه غشے ویشتے دے د الله په لاره کښې او مونږ جهاد کولو د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښې. او زمونږ سره د خوراك څهٔ نهٔ وو مګر پاڼړے د حبلې او سمر (دا دواړه ځنګلی اونے دی) تر دے پورے چه په مونږ کښې به هر یو داسے اودس ماتے کولو لکه بزه چه (بچی) کوی. بیا نن د بنو اسد خلق (یعنی د زبیر اولاد) ما ته د دین خبرے ښائی. یا د دین د پاره تنبیه راکوی یا سزا ورکول غواړی کچرے داسے وی نو زهٔ بالکل په ماته کښې پریوتم او محنت مے صائع شو.

عَنْ إِسْمٰعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ حَتَّى إِنْ كَانَ أَحَدُنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الْعَنْزُ مَا يَخْلِطُهُ بِشَيْءٍ

د اسمٰعیل بن ابی خالد ؒ نه په دے اسناد سره روایت دے. په دے کښې دادی چه تر دے پورے چه په مونږ کښې به چا اودس ماتے کولو څنګه چه بزه کوی په هغے کښې څهٔ میلاؤ نهٔ وی (یعنی خالصے پاڼړے وی

عَنْ خَالِدِ بْنِ عُمَيْرٍ الْعَدَوِيِّ قَالَ خَطَبَنَا عُتْبَةُ بْنُ غَزْوَانَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ الدُّنْيَا قَدْ آذَنَتْ بِصَرْمٍ وَوَلَّتْ حَذَّاءَ وَلَمْ يَبْقَ مِنْهَا إِلَّا صُبَابَةٌ كَصُبَابَةِ الْإِنَاءِ يَتَصَابُّهَا صَاحِبُهَا وَإِنَّكُمْ مُنْتَقِلُونَ مِنْهَا إِلَى دَارٍ لَا زَوَالَ لَهَا فَانْتَقِلُوا بِخَيْرِ مَا بِحَضْرَتِكُمْ فَإِنَّهُ قَدْ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ الْحَجَرَ يُلْقَى مِنْ شَفَةِ جَهَنَّمَ فَيَهْوِي فِيهَا سَبْعِينَ عَامًا لَا يُدْرِكُ لَهَا قَعْرًا وَوَاللهِ لَتُمْلَأَنَّ أَفَعَجِبْتُمْ وَلَقَدْ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ مَا بَيْنَ مِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ

د خالد بن عمیر عدوی نه روایت دے عتبه بن غزوان (چه امر وو د بصرے) مونږ ته خطبه واوروله نو الله تعالی تعریف ئے اوکړو او ثناء ئے اوکړه بیائے اووے روستو د حمد او د درود نه. معلومه دِ وی چه دنیا د ختمیدو خبر ورکړے دے او ددنیا نه څهٔ باقی پاتے نهٔ شو مګر څنګه چه په لوښی کښې څهٔ پاتے باقی پاتیکیږی. چه هغے لره د هغې مالك بچ ساتی. او تاسو د دنیا نه داسے کور ته ځئ چه د هغے زوال نشته نو د خپل خان د تلو نه مخکښې نیکی اوکړئ. ځکه چه مونږ ته بیان شوے دے چه ګټه به د یو طرف د جهنم نه اوغورځولے شی او د اویاؤ کالو پورے به غورځیږی او د هغې ویخ ته به اونهٔ رسی. په الله ؓ قسم دے چه جهنم به ډکیږی اے تاسو تعجب کوئ او مونږ ته بیان کړے شوے دے چه د جنت د یوے غاړے نه واخله د بلے غاړے پورے د څلویښتو کالو لار ده. او یوه ورځ به

مَسِيرَةَ أَرْبَعِينَ سَنَةً وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَيْهَا يَوْمٌ وَهُوَ كَظِيظٌ مِنَ الزِّحَامِ وَلَقَدْ رَأَيْتُنِي سَابِعَ سَبْعَةٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَنَا طَعَامٌ إِلاَّ وَرَقُ الشَّجَرِ حَتَّى قَرِحَتْ أَشْدَاقُنَا فَالْتَقَطْتُ بُرْدَةً فَشَقَقْتُهَا بَيْنِي وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ فَاتَّزَرْتُ بِنِصْفِهَا وَاتَّزَرَ سَعْدٌ بِنِصْفِهَا فَمَا أَصْبَحَ الْيَوْمَ مِنَّا أَحَدٌ إِلاَّ أَصْبَحَ أَمِيرًا عَلَى مِصْرٍ مِنَ الأَمْصَارِ وَإِنِّي أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ أَكُونَ فِي نَفْسِي عَظِيمًا وَعِنْدَ اللهِ صَغِيرًا وَإِنَّهَا لَمْ تَكُنْ نُبُوَّةٌ قَطُّ إِلاَّ تَنَاسَخَتْ حَتَّى يَكُونَ آخِرُ عَاقِبَتِهَا مُلْكًا فَسَتَخْبُرُونَ وَتُجَرِّبُونَ الأُمَرَاءَ بَعْدَنَا

داسے راشي چه جنت به د خلقو د گڼړے نه ډك شي او تا به ليدلي وي چه زۀ اووم وم په اووۀ سړو كښې كوم چه رسول الله ﷺ ملگري وو او زمونږ خوراك هيڅ نۀ وو علاوه د اونو د پاڼړو نه تردے پورے چه زمونږ وښكي زخمي شو (په وجه د پاڼړو د گرمئ او سختئ) ما يو څادر اوموندو او هغه مے اوشلوۀ دوه ټكړے مے كړو د يوے ټكړے نه ما او د بلے نه سعد بن مالك ؓ لنګ اووهو او نن ورځ څوك په مونږ كښې داسے نشته چه د يو ښار حاكم نۀ وي. او زۀ پناه غواړم د دے خبرے نه چه زۀ دِ خپل ځان لوئے اوگڼړم او د الله په نزد ووړوكے يم او بيشكه د هيڅ يو پيغمبر نبوت (په دنيا كښې) هميشه نۀ دے پاتے شوے بلكه د نبوت اثر (په لړه موده كښې) ختم شي تردے پورے چه آخري انجام د هغے دا شي چه هغه بادشاهي شي. پس تاسو به زر بيامومئ او تجربه به اوكړئ د هغه اميرانو چه زمونږ نه روستو راځي. (چه په هغوي كښې به د دين خبرے كوم چه د نبوت اثر دے پاتے نۀ شي او هغوي به بالكل دنيا دار جوړ شي)

عَنْ خَالِدِ بْنِ عُمَيْرٍ وَقَدْ أَدْرَكَ الْجَاهِلِيَّةَ قَالَ خَطَبَ عُتْبَةُ بْنُ غَزْوَانَ وَكَانَ أَمِيرًا عَلَى الْبَصْرَةِ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ شَيْبَانَ

د خالد بن عمير ؓ نه روايت دے چه هغوي د جاهليت زمانه موندلے وه او هغه د بصرے حاكم وو. بيائے بيان كړو په دغه شان لكه چه پورته تير شو د شيبان په حديث كښې.

عَنْ خَالِدِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ عُتْبَةَ بْنَ غَزْوَانَ يَقُولُ لَقَدْ رَأَيْتُنِي سَابِعَ سَبْعَةٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا طَعَامُنَا إِلاَّ وَرَقُ الْحُبْلَةِ حَتَّى قَرِحَتْ أَشْدَاقُنَا

د خالد بن عمير ؓ نه روايت دے وائي چه ما واوريدل د عتبه بن غزوان نه چه هغه وئيلو كچرے تا زۀ ليدلے وي نو زۀ اووم سړے وم د هغه اووۀ سړو نه كوم چه د رسول الله ﷺ سره ملگري وو او زمونږ خوراك هيڅ نۀ وو سوا د حبله د پاڼړو نه (حبله يوه اونه ده)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ هَلْ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے چه صحابؤ ؓ عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ مونږ به د قيامت په ورځ خپل رب ليدلے شو. حضرت ﷺ اوفرمائيل ولے تاسو

تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ فِي الظَّهِيرَةِ لَيْسَتْ فِي سَحَابَةٍ قَالُوا لَا قَالَ فَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لَيْسَ فِي سَحَابَةٍ قَالُوا لَا قَالَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا قَالَ فَيَلْقَى الْعَبْدَ فَيَقُولُ أَيْ فُلْ أَلَمْ أُكْرِمْكَ وَأُسَوِّدْكَ وَأُزَوِّجْكَ وَأُسَخِّرْ لَكَ الْخَيْلَ وَالْإِبِلَ وَأَذَرْكَ تَرْأَسُ وَتَرْبَعُ فَيَقُولُ بَلَى قَالَ فَيَقُولُ أَفَظَنَنْتَ أَنَّكَ مُلَاقِيَّ فَيَقُولُ لَا فَيَقُولُ فَإِنِّي أَنْسَاكَ كَمَا نَسِيتَنِي ثُمَّ يَلْقَى الثَّانِيَ فَيَقُولُ أَيْ فُلْ أَلَمْ أُكْرِمْكَ وَأُسَوِّدْكَ وَأُزَوِّجْكَ وَأُسَخِّرْ لَكَ الْخَيْلَ وَالْإِبِلَ وَأَذَرْكَ تَرْأَسُ وَتَرْبَعُ فَيَقُولُ بَلَى أَيْ رَبِّ فَيَقُولُ أَفَظَنَنْتَ أَنَّكَ مُلَاقِيَّ فَيَقُولُ لَا فَيَقُولُ فَإِنِّي أَنْسَاكَ كَمَا نَسِيتَنِي ثُمَّ يَلْقَى الثَّالِثَ فَيَقُولُ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ آمَنْتُ بِكَ وَبِكِتَابِكَ وَبِرُسُلِكَ وَصَلَّيْتُ وَصُمْتُ وَتَصَدَّقْتُ وَيُثْنِي بِخَيْرٍ مَا اسْتَطَاعَ فَيَقُولُ هَاهُنَا إِذًا قَالَ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ الْآنَ نَبْعَثُ شَاهِدَنَا عَلَيْكَ وَيَتَفَكَّرُ فِي نَفْسِهِ

ته شك وى تهيك په سره غرمه كښې د نمر په ليدو كښې چه وريځ نه وى صحابو اووے چه نه حضرت ﷺ اوفرمائيل ولې تاسو ته شك وى د څوارلسمے شپې د سپوږمۍ په ليدو كښې هر كله چه وريځ نه وى صحابو اووے نه حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس كښې چه څما روح دے چه تاسو ته به د خپل رب په ديدار كښې څۀ شك او اختلاف نۀ وى مگر لكه د نمر يا سپوږمۍ په ليدو كښې (يعنى لكه څنگه چه د سپوږمۍ نمر په ليدو كښې شك نشته دغه شان د الله په ليدو كښې به شك نۀ وى. بيا به الله تعالى حساب كوى د يو بنده سره نو اوبه وائى چه اے فلانيه تا له ما عزت نۀ وو دركړے او تۀ مے سردار كړے نۀ وے او اوښان اسونه مے ستا تابع كړے نۀ وو او تۀ مے پريخودے وے چه تا د خپل قوم رياست كولو او مزے د اخستلے. نو بنده به اووائى چه رښتيا دى حضرت ﷺ اوفرمائيل بيا به الله پاك اوفرمائى. آيا ستا دا گمان وو چه تۀ به څما سره ميلاوېږے نو بنده به اووائى چه ناه. نو الله تعالى به اوفرمائى چه اوس هم موږ تا له هير وو (يعنى ستا خبر نۀ اخلو او تا د عذاب نه نۀ بچ كوو) لكه څنگه چه تا زۀ هير كړے وم. بيا به الله تعالى د بل بنده سره حساب كوى نو اوبه وائى اے فلانيه ما تا له عزت نۀ وو دركړے او تۀ مے سردار نۀ وے جوړ كړے او تا له مے ستا تابعدار كړى نۀ وو. او تۀ مے پريخودے وے چه د خپل قوم رياست د كولو او مزه د اخستله نو بنده به اووائى چه رښتيا دى اے څما ربه. بيا به الله تعالى اوفرمائى آيا ستا گمان وو چه تۀ به څما سره ميلاوېږے. بنده به اووائى چه نه بيا به الله تعالى اوفرمائى. بيشكه زۀ اوس هم تا له هير وم لكه چه تا زۀ په دنيا كښې هير كړے وم. بيا به د دريم بنده سره حساب كوى نو هغۀ ته به هم دغه شان اووائى. بنده به اووائى اے ربه ما پتا باندے ايمان راوړے

مَنْ ذَا الَّذِي يَشْهَدُ عَلَيَّ فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ وَيُقَالُ لِفَخِذِهِ وَلَحْمِهِ وَعِظَامِهِ انْطِقِي فَتَنْطِقُ فَخِذُهُ وَلَحْمُهُ وَعِظَامُهُ بِعَمَلِهِ وَذَلِكَ لِيُعْذِرَ مِنْ نَفْسِهِ وَذَلِكَ الْمُنَافِقُ وَذَلِكَ الَّذِي يَسْخَطُ اللَّهُ عَلَيْهِ

وو او ستا په کتابونو او ستا په رسولانو باندے مونځ به مے کوو روژه به مے نیوله صدقه به مے ورکوله دغه شان خپل تعریف به کوی څومره چه کولے شی. الله به اوفرمائی گوره دلته ستا دروغ ظاهریږی حضرت ﷺ فرمائیلی دی چه بیا به حکم اوشی چه اوس مونږ پتا باندے گواه لودروو. بنده به په خپل زړهٔ کښ سوچ اوکړی چه څوك به په ما گواهی اوکړی بیا به د هغهٔ په خلهٔ مهر اولگی او حکم به اوشی د هغهٔ ورون ته چه وایه نو د هغهٔ ورون د هغهٔ غوښے به د هغهٔ او هډوکی د هغهٔ به په اعمالو گواهی ورکړی او گواه به په دے وجه وی چه د هغهٔ عذر باقی پاتے نهٔ شی د هغهٔ د ذات د گواهی نه او دا سړے به منافق یعنی دروغژن مسلمان وی او په دهٔ به د الله تعالیٰ غصه وی رومبی دواړه کافر وو معاذا لله د کومے پورے چه خالص د زړهٔ د اخلاصه د الله دپاره عبادت نهٔ کوی نو څهٔ فائده نے نشته خلقو ته د ښودنے په نیت مونځ یا روژه نیول وبال دے دد ے نه نهٔ کول غوره دی)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكَ فَقَالَ هَلْ تَدْرُونَ مِمَّ أَضْحَكُ قَالَ قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ مِنْ مُخَاطَبَةِ الْعَبْدِ رَبَّهُ يَقُولُ يَا رَبِّ أَلَمْ تُجِرْنِي مِنَ الظُّلْمِ قَالَ يَقُولُ بَلَى قَالَ فَيَقُولُ فَإِنِّي لَا أُجِيزُ عَلَى نَفْسِي إِلَّا شَاهِدًا مِنِّي قَالَ فَيَقُولُ كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ شَهِيدًا وَبِالْكِرَامِ الْكَاتِبِينَ شُهُودًا قَالَ فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ فَيُقَالُ لِأَرْكَانِهِ انْطِقِي قَالَ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو. چه په دے کښ حضرت ﷺ په مُسکراهت سره اوفرمائیل چه تاسو څهٔ خبر یئ چه ما ولے اوخندل ؟ مونږ اووے الله او د هغهٔ رسول ښه پوهیږی حضرت ﷺ اوفرمائیل ماله خندا راغله د بنده په خبرو باندے چه د خپل مالك سره به کوی بنده به اووائی اے خما مالکه ولے تا ماله پناه نهٔ ده راکړے د ظلم نه؟ یعنی تا وعده کړے ده چه ظلم به نهٔ کوم، حضرت ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالیٰ به جواب ورکړی چه آو مونږ ظلم نهٔ کوو. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه بیا به بنده اووائی چه زهٔ د خپل ځان نه علاوه د بل چا گواهی په ځان باندے جائز نهٔ گڼرم. الله به ورته اوفرمائی ښه ده ستا د ذات گواهی به پتا باندے نن ورځ کفایت اوکړی او د کراماً کاتبین

فَتَنْطِقُ بِأَعْمَالِهِ قَالَ ثُمَّ يُخَلَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَلَامِ قَالَ فَيَقُولُ بُعْدًا لَكُنَّ وَسُحْقًا فَعَنْكُنَّ كُنْتُ أُنَاضِلُ

گواهي. حضرت ﷺ فرمائي بيا به مُهر اولګولے شي د بنده په خلهٔ باندے اولاسونو. خپو ته به ئے حکم اوشي چه وايئ هغه به ددهٔ ټول عملونه بيان کړي بيا به بنده ته د خبرو کولو اجازت اوشي نو هغه به خپلو خپو اولاسونو ته اووائي ځئ لرے شئ الله مو اووهه ما خو ستاسو دپاره جهګړه کوله (يعني تاسو مے د دوزخ نه بچ کولئ چه تاسو پخپله د ګناه اقرار اوکړو نو اوس دوزخ ته ځئ)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتًا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. يا الله د محمد (ﷺ) ال ته په قدر د کفاف روزي ورکړے (يعني د ضرورت نه زياته مهٔ ورکوه چه ستا د يادونه غافله نهٔ شي)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتًا وَفِي رِوَايَةِ عَمْرٍو اللَّهُمَّ ارْزُقْ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل يا اللهؒ! د محمد د ال رزق د کفاف په اندازه کړے. او د عمرو په روايت کښ د اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ په ځائے اَللّٰهُمَّ ارْزُقْ دے.

عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ كَفَافًا

د عمارہ بن قعقاعؒ نه په دے اسناد سره روايت دے او په دے کښ (د قوتًا په ځائے) کفافًا دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ مِنْ طَعَامِ بُرٍّ ثَلَاثَ لَيَالٍ تِبَاعًا حَتّٰى قُبِضَ

د أُم المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه د حضرت محمد ﷺ ال چه د کله نه مدينے ته تشريف راوړو نو چرته هم درے ورځے پرله پسے د غنمو په ډوډئ نهٔ دي ماړهٔ شوي تر دے پوري چه حضرتؐ وفات شو (باوُجود د دے چه د دين دنيا بادشاهي هغوي ته حاصله وه کچرے د الله نه ئے غوښتے نو د ټولے دنيا دولت ورته ميلاويدهٔ)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا شَبِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ تِبَاعًا مِنْ خُبْزِ بُرٍّ حَتّٰى مَضَى لِسَبِيلِهِ

حضرت عائشےؓ وبلي دی چه رسول الله ﷺ چرته درے ورځے پرله پسے د غنمو ډوډئ په مړه خيټه نهٔ ده خوړلے تر دے پورے چه د حضرت ﷺ وفات شو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ

د حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه د محمد ﷺ ال چرته دوه ورځے

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خُبْزِ شَعِيرٍ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

پرله پسے د وریشو په دوؤ ورځو موړ شوے نه دے تر دے پورے چه د حضرت ﷺ وفات اوشو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خُبْزِ بُرٍّ فَوْقَ ثَلَاثٍ

حضرت عائشے ؓ وئیلی دی چه د محمد ﷺ کور والا چرته د دریو ورځو نه زیات د غنمو په ډوډئ ماړهٔ شوی نه دی.

عَنْ عَائِشَةَ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خُبْزِ الْبُرِّ ثَلَاثًا حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ

د حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه د محمد ﷺ کور والا چرته درے ورځے پرله پسے د غنمو په ډوډئ ماړهٔ شوی نه دی تر دے پورے چه د حضرت ﷺ وفات اوشو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَيْنِ مِنْ خُبْزِ بُرٍّ إِلَّا وَأَحَدُهُمَا تَمْرٌ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه د محمد ﷺ آل د دوو ورځو پورے د غنمو په ډوډئ نه دی ماړهٔ شوی. مګر یوه ورځ کهجورے وے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنْ كُنَّا آلَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنَمْكُثُ شَهْرًا مَا نَسْتَوْقِدُ بِنَارٍ إِنْ هُوَ إِلَّا التَّمْرُ وَالْمَاءُ

د حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه زمونږ د آل محمد ﷺ دا حال وو چه د میاشتو میاشتو پورے به مونږ اُور نه بلوؤ صرف په کهجورو او اوبو به مو ګزاره کوله

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ إِنْ كُنَّا لَنَمْكُثُ وَلَمْ يَذْكُرْ آلَ مُحَمَّدٍ وَزَادَ أَبُو كُرَيْبٍ فِي حَدِيثِهِ عَنِ ابْنِ نُمَيْرٍ إِلَّا أَنْ يَأْتِيَنَا اللُّحَيْمُ

د هشام بن عروه نه په دے اسناد سره روایت دے چه مونږ به وخت تیروو او په دے کښې د آل محمد الفاظ نشته او ابوکریب د ابن نمیر په واسطے سره په خپل حدیث کښې دا زیاته کړے ده. مګر هر کله به غوښه مونږ له راغله (نو اُور به مو بل کړو)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا فِي رَفِّي مِنْ شَيْءٍ يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ إِلَّا شَطْرُ شَعِيرٍ فِي رَفٍّ لِي فَأَكَلْتُ مِنْهُ حَتَّى طَالَ عَلَيَّ فَكِلْتُهُ فَفَنِيَ

د أم المؤمنین حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفات شو او خما د دانو په لوښی کښې لږ شان وریشے وے ما به د هغے نه نه خوړلے تر دے پورے چه ډیرے ورځے تیرے شوے ماهغه ناپ کړے نو ختم شوے (معلوم شوه چه په مجهول او مبهم شی کښې برکت وی)

عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَقُولُ وَاللهِ يَا ابْنَ أُخْتِي إِنْ كُنَّا لَنَنْظُرُ إِلَى الْهِلَالِ ثُمَّ الْهِلَالِ

د عروه نه روایت دے ام المؤمنین حضرت عائشے ؓ وئیل قسم په خدائے اے خوریه خما. مونږ یوه سپوږمئ وینو

ثُمَّ الْهِلَالِ ثَلَاثَةَ أَهِلَّةٍ فِي شَهْرَيْنِ وَمَا أُوقِدَ فِي أَبْيَاتِ رَسُولِ اللهِ ﷺ نَارٌ قَالَ قُلْتُ يَا خَالَةُ فَمَا كَانَ يُعَيِّشُكُمْ قَالَتِ الْأَسْوَدَانِ التَّمْرُ وَالْمَاءُ إِلَّا أَنَّهُ قَدْ كَانَ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ جِيرَانٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَكَانَتْ لَهُمْ مَنَائِحُ فَكَانُوا يُرْسِلُونَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ مِنْ أَلْبَانِهَا فَيَسْقِينَاهُ

دويمه وينو دريمه وينو په دوه مياشتے كښې درے سپوږمۍ وينو او د رسول الله ﷺ په كورونو ددے مودے پورے أور نۀ دے بل شوے. ما اووے اے ترور بيا تاسو څۀ خوړل هغوى اووے كهجورے او اوبۀ. البته د رسول الله ﷺ د څۀ ګاونډيانو پيو والا څاروے وو. هغوى به د رسول الله ﷺ دپاره پئ راليږل نو حضرتؐ به په مونږ هغه پئ څكول.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَقَدْ مَاتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا شَبِعَ مِنْ خُبْزٍ وَزَيْتٍ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ

د أُم المؤمنين عائشےؓ نه روايت دے. رسول الله ﷺ وفات شو او حضرتؐ نۀ وو موړ شوے په ډوډئ او د زيتون په تيلو په يوه ورځ كښې دوه ځله (يعنې سحر او ماښام دواړه وخته ئے په مړه نۀ ده خوړلے).

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ شَبِعَ النَّاسُ مِنَ الْأَسْوَدَيْنِ التَّمْرِ وَالْمَاءِ

د أُم المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے د رسول الله ﷺ وفات اوشو او هغه وخت چه خلق ماړۀ شو په اوبو او په كهجورو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ شَبِعْنَا مِنَ الْأَسْوَدَيْنِ الْمَاءِ وَالتَّمْرِ

د حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ وفات اوشو او مونږ ماړۀ شوی وو په اوبو او په كهجورو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّادٍ وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ مَا أَشْبَعَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَهْلَهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ تِبَاعًا مِنْ خُبْزِ حِنْطَةٍ حَتَّى فَارَقَ الدُّنْيَا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه قسم دے په هغه ذات دٔ چا په لاس كښې چه د ابوهريره روح دے چه رسول الله ﷺ خپل كور والا نۀ دی ماړه كړی درے ورځے پرله پسے د غنمو په ډوډئ. تردے پورے چه ددنيا نه ئے تشريف يوړو.

عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ رَأَيْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يُشِيرُ بِإِصْبَعِهِ مِرَارًا يَقُولُ وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ مَا شَبِعَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلُهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ تِبَاعًا مِنْ خُبْزِ

د ابوحازم نه روايت دے چه ما اوليدۀ ابوهريرهؓ لره چه په خپلو دوو ګوتو سره ئے باربار اشاره كوله او وئيل ئے چه قسم دے په هغه ذات د چا په لاس كښې چه د ابوهريره روح دے چه رسول الله ﷺ او د هغۀ كور والا چرته هم درے ورځے پرله پسے د غنمو په ډوډئ نۀ دی ماړۀ

حِنْطَةٍ حَتَّى فَارَقَ الدُّنْيَا

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ يَقُولُ أَلَسْتُمْ فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ ﷺ وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلَأُ بِهِ بَطْنَهُ وَقُتَيْبَةُ لَمْ يَذْكُرْ بِهِ

عَنْ سِمَاكٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَزَادَ فِي حَدِيثِ زُهَيْرٍ وَمَا تَرْضَوْنَ دُونَ أَلْوَانِ التَّمْرِ وَالزُّبْدِ

عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ يَخْطُبُ قَالَ ذَكَرَ عُمَرُ مَا أَصَابَ النَّاسُ مِنَ الدُّنْيَا فَقَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَظَلُّ الْيَوْمَ يَلْتَوِي مَا يَجِدُ دَقَلًا يَمْلَأُ بِهِ بَطْنَهُ

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ أَلَسْنَا مِنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللَّهِ أَلَكَ امْرَأَةٌ تَأْوِي إِلَيْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ أَلَكَ مَسْكَنٌ تَسْكُنُهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَنْتَ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ قَالَ فَإِنَّ لِي خَادِمًا قَالَ فَأَنْتَ مِنَ الْمُلُوكِ قَالَ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَجَاءَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ وَأَنَا عِنْدَهُ فَقَالُوا يَا أَبَا مُحَمَّدٍ إِنَّا وَاللَّهِ مَا نَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ لَا نَفَقَةٍ وَلَا دَابَّةٍ وَلَا مَتَاعٍ فَقَالَ لَهُمْ مَا شِئْتُمْ إِنْ شِئْتُمْ رَجَعْتُمْ إِلَيْنَا فَأَعْطَيْنَاكُمْ مَا يَسَّرَ اللَّهُ لَكُمْ وَإِنْ شِئْتُمْ

شوی تر دے پورے چه هغوی د دنیا نه تشریف یوړو.

د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے چه تاسو نه اوسئ چه خوری او څښئ څۀ چه مو خوښه وی او ما ستاسو پیغمبر ﷺ لیدلے دے چه هغوی ته کمزورے کهجوره هم په مړه خیټه نۀ ده میلاؤ شوے.

د سماك نه دا حدیث د پورتنی حدیث پشان مروی دے او د زهیر په حدیث کښې زیاته ده او تاسو د قِسم قِسم کهجورو کُچو نه بغیر نۀ راضی کیږئ.

د سماك بن حرب نه روایت دے چه ما د نعمان نه د خطبې په لوستلو کښې اوریدلی دی چه وئیل ئې حضرت عمرؓ ذکر اوکړو د دنیا چه خلقو حاصله کړے ده بیانئے اووے ما رسول الله ﷺ لره لیدلے دے چه توله ورځ به ناقراره وو د لوږے نه هغوی ته به خرابه کهجوره په مړه خیټه نۀ میلاویده.

د عبد الله بن عمرو بن عاصؓ نه یو سری تپوس اوکړو چه مونږ مهاجرین د فقیرانو نه یو. عبد الله اووے چه ستا بی بی شته د چا سره چه ته اوسیږے. هغۀ اووے آو. عبد الله اووے ستا کور شته په کور کښې چه ته اوسیږے. هغۀ اووے آو. عبد الله اوے بیا ته د امیرانو نه ئے. هغۀ اووے څما سره یو خادم هم دے. عبد الله اووے بیا خو ته د بادشاهانو نه ئے. ابو عبد الرحمن وائی درے سری د عبد الله بن عمرو بن عاصؓ خواله راغله زۀ د هغوی سره موجود وم هغوی اووے اے ابا محمد ! قسم په الله دے چه مونږ ته یو څیز میسر نه دے نۀ خرچ شته نۀ سورلی نۀ اسباب. عبد اللهؓ اووے ته چه څۀ غواړے زۀ به ئے اوکړم کچرے ته غواړے نو زمونږ خواله راشه مونږ به تاله درکړو هغه څۀ چه الله ستا په تقدیر کښې لیکلی



ذَكَرْنَا أَمْرَكُمْ لِلسُّلْطَانِ وَإِنْ شِئْتُمْ صَبَرْتُمْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ يَسْبِقُونَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا قَالُوا فَإِنَّا نَصْبِرُ لَا نَسْأَلُ شَيْئًا

وی. او که ته وائی نو مونږ به ستا ذکر د بادشاه سره اوکړو او که غواړے نو صبر کوه ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. محتاج مهاجرین به د مالدارانو نه څلویښت کاله مخکښ (جنت ته) ځی هغوی اووے. مونږ صبر کوو او څۀ نۀ غواړو.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الدُّخُولِ عَلَى أَهْلِ الْحِجْرِ إِلَّا مَنْ يَدْخُلُ بَاكِيًا

باب : د قوم ثمود کورونو ته د تلو نه ممانعت مگر څوك چه ژړیدونکے ځی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِ الْحِجْرِ لَا تَدْخُلُوا عَلَى هَؤُلَاءِ الْقَوْمِ الْمُعَذَّبِينَ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا بَاكِينَ فَلَا تَدْخُلُوا عَلَيْهِمْ أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَهُمْ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د اصحاب حجر (یعنی د ثمود خلق چه ټول د فرښتے د تیز آواز نه هلاك شو) په شان کښې (په غزا د تبوك کښې ددغه قوم کورونه هلته وو) چه مۀ ورځئ په دغه عذاب والاخلقو باندے (یعنی د هغوی کورونو ته) مگر په ژړا سره د الله د یرے نه او په پناه غوښتلو سره د هغۀ د عذاب نه) کچرے تاسو ژړلے نۀ شی نو هلته مۀ ځئ داسے نۀ وی چه په تاسو باندے هغه عذاب راشی کوم چه په هغوی راغلے وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ مَرَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْحِجْرِ فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْخُلُوا مَسَاكِنَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ حَذَرًا أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَهُمْ ثُمَّ زَجَرَ فَأَسْرَعَ حَتَّى خَلَّفَهَا

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په حجر باندے تیریدو. حضرتؐ اوفرمائیل مۀ ورځئ د ظالمانو کورونو ته مگر په ژړا سره او خان ترے اوساتئ چرته په تاسو هم هغه عذاب را نۀ شی کوم چه په هغوی راغلے وو. بیا حضرت ﷺ خپله سورلئ اووهله او په تادئ لاړو تردے پورے چه حجر روستو پاتے شو

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّاسَ نَزَلُوا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْحِجْرِ أَرْضِ ثَمُودَ فَاسْتَقَوْا مِنْ آبَارِهَا

د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه خلق د رسول الله ﷺ سره کوز شو په حجر کښې (یعنی د ثمود په ملك کښې) هغوی د هغه ځائے د کوهیانو اوبۀ رااوویستے د څښلو دپاره او په هغه اوبو ئے اوړۀ واغږل

وَعَجَنُوا بِهِ الْعَجِينَ فَأَمَرَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُهَرِيقُوا مَا اسْتَقَوْا وَيَعْلِفُوا الْإِبِلَ الْعَجِينَ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَسْتَقُوا مِنَ الْبِئْرِ الَّتِي كَانَتْ تَرِدُهَا النَّاقَةُ

. رسول الله ﷺ هغوی ته حکم اوکړو د هغه اوبو د تویولو کومې چه ئے د څښلو دپاره رااخستے وے. او د اُوړو حکم ئے اوکړو چه په اوښانو ئے اوخوروی؛ او حکم ئے اوکړو چه د څښلو اوبه د هغه کوهی نه واخلی؛ کوم له چه به د صالح علیه السلام اوښه راتلله[1].

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَاسْتَقَوْا مِنْ بِنَارِهَا وَاعْتَجَنُوا بِهِ

د عبید الله نه په دے اسناد سره دغسے روایت دے مګر په دے کښں الفاظ دادی. بِنَارِهَا او وَاعْتَجَنُوا.

بَابُ فَضْلِ الْإِحْسَانِ إِلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ وَالْيَتِيمِ

باب : د کُنډے او د مسکین او د یتیم سره د ښۀ سلوك کولو فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَحْسِبُهُ قَالَ وَكَالْقَائِمِ لَا يَفْتُرُ وَكَالصَّائِمِ لَا يُفْطِرُ

د ابوهریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه د کنډو دپار ګټی او محنت کوی یا د مسکین دپاره. د هغهٔ داسے درجه ده لکه د الله په لاره کښں د جهاد کونکی او څما خیال دے چه دائے هم فرمائیلی دی چه دغه شان درجه د هغه مونځ کونکی ده چه هغه د مانځهٔ دپاره ولاړ وی او نهٔ ستړے کیږی. او دغه شان درجه د هغه روژه دار ده چه هغه په روژه کښں ناغه نهٔ کوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَافِلُ الْيَتِيمِ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ أَنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ فِي الْجَنَّةِ وَأَشَارَ مَالِكٌ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى

د ابوهریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زهٔ او د یتیم خبر اخستونکے خواه کهٔ د هغهٔ خپل وی یا پردے په جنت کښں به په دے شان سره ملګری یولګه دا دوه ګوتے. او مالك اشاره اوکړه د کلمے او د مینځ په ګوته سره.

بَابُ فَضْلِ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ

باب : د جماعت د جوړولو فضیلت

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ الْخَوْلَانِيِّ يَذْكُرُ أَنَّهُ سَمِعَ

د عبید الله خولانی نه روایت دے هر کله چه حضرت

---

[1] نووی وانی دے نه معلومه شوه چه د ظالمانو په زمکه کښں په عاجزئ او مراقبه سره تلل پکار دی. او غوره داده چه زر زر د هغه خائے نه اوځی او د هغه خائے خوراك او اوبهٔ استعمال نهٔ کړی. او دا هم معلومه شوه چه کومه غله بنیادم او نهٔ خوری هغه په ځناور خوړول پکار دی ،انتهی،

عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ عِنْدَ قَوْلِ النَّاسِ فِيهِ حِينَ بَنَى مَسْجِدَ الرَّسُوْلِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ قَدْ أَكْثَرْتُمْ وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ بَنَى مَسْجِدًا قَالَ بُكَيْرٌ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ يَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللهِ بَنَى اللهُ لَهُ مِثْلَهُ فِي الْجَنَّةِ وَفِي رِوَايَةِ هَارُونَ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ

عثمان مسجد نبوی وران کړو جوړ وو ئے. نو خلقو د هغهٔ په حق کښې خبرے اوکړے. حضرت عثمان اووے تاسو ډیرے خبرے جوړے کړے او ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. کوم سړے چه خالص د الله د رضا دپاره جماعت جوړ کړی نو د نوم دپاره نو الله تعالی به ورته په جنت کښې دد ے پشان کور جوړ کړی.

عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ أَرَادَ بِنَاءَ الْمَسْجِدِ فَكَرِهَ النَّاسُ ذٰلِكَ وَأَحَبُّوا أَنْ يَدَعَهُ عَلَى هَيْئَتِهِ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلّٰهِ بَنَى اللهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ مِثْلَهُ.

د محمود بن لبید نه روایت دے چه حضرت عثمان د مسجد نبوی د جوړولو اراده اوکړه. خلقو هغهٔ لره بد اوګڼل او دائے غوره کړه چه هغه مسجد په دغه شکل کښې پاتے شی (څنګه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو) هغوی اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو څوك چه د الله رضا دپاره جماعت جوړ کړی الله تعالی د هغهٔ دپاره په جنت کښې یو کور جوړ کړی.

عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِهِمَا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ

د عبد الحمید بن جعفر نه په دے اسناد سره روایت دے. مګر په دے کښې دی جوړ به کړی الله تعالی د دهٔ دپاره کور په جنت کښې.

بَابُ فَضْلِ الْإِنْفَاقِ عَلَى الْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ

باب: په مسکین او په مسافر باندے د خرچ کولو ثواب

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا رَجُلٌ بِفَلَاةٍ مِنَ الْأَرْضِ فَسَمِعَ صَوْتًا فِي سَحَابَةٍ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ فَتَنَحَّى ذٰلِكَ السَّحَابُ فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِي حَرَّةٍ فَإِذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذٰلِكَ الْمَاءَ

د ابوهریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل یو خل یو سړی په یو میدان کښې د وریځے نه یو آواز واوریدهٔ چه اے وریځے لاړه شه او د فلانی باغ اوبهٔ کړه (دد ے آواز نه پس) هغه وریځ په یو طرف روانه شوه او په یوه غریزه زمکه کښې ئے باران اوورو. یوه نالئ د هغه ځائے د نالونه ډکه شوه. نو پس هغه سړے په وریدلو اوبو پسے روستو روستو لاړو چه ناڅاپه ئے یو سړے اولیدهٔ چه په خپل باغ کښې ولاړ وو او اوبهٔ ئے پخپله

كُلَّهُ فَتَتَبَّعَ الْمَاءَ فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي حَدِيقَتِهِ يُحَوِّلُ الْمَاءَ بِمِسْحَاتِهِ فَقَالَ لَهُ يَا عَبْدَ اللهِ مَا اسْمُكَ قَالَ فُلَانٌ لِلِاسْمِ الَّذِي سَمِعَ فِي السَّحَابَةِ فَقَالَ لَهُ يَا عَبْدَ اللهِ لِمَ تَسْأَلُنِي عَنْ اسْمِي فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ صَوْتًا فِي السَّحَابِ الَّذِي هَذَا مَاؤُهُ يَقُولُ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ لِاسْمِكَ فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا قَالَ أَمَّا إِذْ قُلْتَ هَذَا فَإِنِّي أَنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ وَآكُلُ أَنَا وَعِيَالِي ثُلُثًا وَأَرُدُّ فِيهَا ثُلُثَهُ

بيلچه سره اخوا ديخوا كولې هغه باغ والا ته هغه سړي اووے اے د الله بنده ستا څه نوم دے. هغه اووے فلانے. هم هغه نوم ئے واخستو كوم چه ده په وريخ كښې اوريدلے وو. بيا د باغ مالك دده سړي نه تپوس اوكړو چه اے د الله بنده تا خما د نوم تپوس ولے اوكړو هغه اووے ما په وريخ كښې يو آواز واوريده چه د هغے دا اوبه دي چا اووئيل چه د فلاني باغ اوبه كړه او ستا نوم ئے واخستو. نو ته په دے باغ كښې د الله د احسان څه شكر ادا كوے؟ باغ والا اووے چه تا هر كله داسے اووے نو زه به اوس خيال كوم هغه څه ته چه په دے باغ كښې پيدا كيږي يو حصه به ددے په درے حصو كښې خيرات كوم او يوه حصه به په دريو كښې په خپل بال بچ خوروم او يوه حصه به په دريو كښې ددے باغ په مرمت لګوم. (دې حديث نه معلومه شوه چه د مال دريمه حصه د الله په لاره كښې وركول غوره دي او دا هم معلومه شوه چه فرښتے د الله د حكم موافق باران وروي په يو مقام كښې يو ځائے زيات او بل ځائے كم وروي.)

عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَأَجْعَلُ ثُلُثَهُ فِي الْمَسَاكِينِ وَالسَّائِلِينَ وَابْنِ السَّبِيلِ

د وهب بن كيسان نه په دے اسناد سره روايت كړو مګر په دے كښې دي دريمه حصه به زه د مسلمانانو سوال كونكو او په مسافرو خرچ كومه.

بَابُ تَحْرِيمِ الرِّيَاءِ

باب : د ريا او د ځان ښودلو حرمت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ

د ابوهريره نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي الله تعالى فرمائي زه په نسبت د نورو شريكانو محض بے پرواه يم د شراكتي نه چا چه څه داسے عمل اوكړو چه په هغے كښې ئے خما سره خمانه غير شراكتي كړو. نو زه هغه لره او د هغه د شريك كار لره پريږدم (يعني كوم عبادت او عمل چه د ښودنے او شهرت دپاره وي د الله په ټر مقبول نه دے مردود دے الله هغه عبادت او عمل

قبلوی چه د الله دپاره خالص وی. د بل چا پکښې څۀ حصه نۀ وی)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللهُ بِهِ وَمَنْ رَاءَى رَاءَى اللهُ بِهِ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم بنده چه د اورولو دپاره خلقو ته ي ونیك كار كوی الله تعالی به هم د قیامت په ورځ د هغۀ ذلت خلقو ته واوروی. او كوم بنده چه ريا كوی الله به هم ورته اوښائی (یعنی صرف ثواب به ورته اوښائی خو میلاویږی به ورته هیڅ نه دد دے دپاره چه همیشه ارمان كوی)

عَنْ جُنْدَبٍ الْعَلَقِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُسَمِّعْ يُسَمِّعِ اللهُ بِهِ وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللهُ بِهِ

د جندب علقی نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی .كوم بنده چه خلقو ته خپلے نیكئ اورول غواړی. الله تعالی به د هغۀ بدئ یا د هغۀ عذاب خلقو ته واوروی. او څوك چه دښودنے دپاره عبادت كوی . الله به هم هغۀ ته ښودنه اوكړی. (یعنی د قیامت په ورځ به د هغۀ عیبونه خلقو ته اوښائی. یا صرف ثواب به ورته اوښائی او میلاویږی به ورته هیڅ نه)

عَنْ سُفْيَانَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ وَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا غَيْرَهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د سفیان په دے اسناد سره روایت دے او په دے کښې دا زیاته ده چه ما ددۀ نه علاوه د بل نه نۀ دی اوریدلی. هغۀ به وئیل چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.

عَنْ سَلَمَةَ بْنَ كُهَيْلٍ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدَبًا وَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ بِمِثْلِ حَدِيْثِ الثَّوْرِيِّ عَنِ الْوَلِيْدِ بْنِ حَرْبٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

سلمه بن کهیل اووئیل چه ما د جندب نه واوریدل او ما سوا د هغوی نه د بل نه اوریدلی نۀ دی چه هغۀ وئیل ئے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. هغۀ به د ثوری د حدیث پشان وئیل کوم چه هغۀ د ولید بن حرب په واسطے سره په دے اسناد سره روایت کړو.

بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ

باب : د ژبے د منع کولو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ يَنْزِلُ بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مَا بَيْنَ

د ابوهریره نه روایت دے چه دۀ د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. خامخا بنده یوه داسے خبره اوکړی چه د هغے په وجه سره دومره په اور کښې اوغورځیږی لکه د مشرق نه د مغرب پورے.

الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مَا يَتَبَيَّنُ مَا فِيهَا يَهْوِي بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

بَابُ مَنْ يَأْمُرُ وَلَا يَفْعَلُ وَيَنْهَى وَلَا يَنْتَهِي

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قِيلَ لَهُ أَلَا تَدْخُلُ عَلَى عُثْمَانَ فَتُكَلِّمَهُ فَقَالَ أَتَرَوْنَ أَنِّي لَا أُكَلِّمُهُ إِلَّا أُسْمِعُكُمْ وَاللهِ لَقَدْ كَلَّمْتُهُ فِيمَا بَيْنِي وَبَيْنَهُ مَا دُونَ أَنْ أَفْتَتِحَ أَمْرًا لَا أُحِبُّ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ فَتَحَهُ وَلَا أَقُولُ لِأَحَدٍ يَكُونُ عَلَيَّ أَمِيرًا إِنَّهُ خَيْرُ النَّاسِ بَعْدَ مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُ بَطْنِهِ فَيَدُورُ بِهَا كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِالرَّحَى فَيَجْتَمِعُ إِلَيْهِ أَهْلُ النَّارِ فَيَقُولُونَ يَا فُلَانُ مَا لَكَ أَلَمْ تَكُنْ تَأْمُرُ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَى عَنِ الْمُنْكَرِ فَيَقُولُ بَلَى قَدْ كُنْتُ آمُرُ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ وَأَنْهَى

(لكه د چا مسلمانانو شكايت يا د حاكم وخت په مخكښې مُخبري، يا تهمت، يا كنځل، يا د كفر كلمه د خدائے يا د خدائے د رسولﷺ يا د قرآن يا د شريعت سره. نو انسان له پكار دي چه ژبه په قابو كښې اوساتي، او بې ضروره خبرے نه كوي)

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه بنده يوه خبره اوكړي او نه پوهيږي چه په دے كښې څومره نقصان دے. دد ے په سبب په اور كښې دومره ښكته غورځيږي لكه د مشرق نه د مغرب په پورے.

باب: كوم سړے چه نورو ته نصيحت كوي او پخپله عمل نه كوي، د هغه عذاب

د أسامه بن زيدؓ نه روايت دے وائي چه هغوی ته اووئيلے شو چه ته د حضرت عثمانؓ خواله نه ځې او خبرے ورسره نه كوے. هغوی اووے ولے ته خبر ئے چه زه د هغوی سره خبرے نه كوم. خبردار زه تاسو ته اوروم قسم په اللهﷻ دے چه ما د هغه سره خبرے كړے دي خه چه څما او د هغه په مينځ كښې كول وو. البته زه دا نه خوښوم چه هغه خبره ښكاره كړم چه د هغې ښكاره كولو والاد رومبے زه شم او زه دا هيچا ته چه په ما باندے حاكم وي نه شم وئيلے چه هغه په ټولو خلقو كښې غوره دے. ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو د قيامت په ورځ به يو سړے راوستے شي او بيا به هغه جهنم ته اوغورځولے شي د هغه د ګيډے نه به كُلمے بهر راووځي. هغه به هغه كُلمے راواخلي او د ارټې خر پشان به چا پيره چكر لګوي. جهنم والا به ورته راجمع شي او تپوس به ترے اوكړي اے فلانيه تا به د ښو خبرو حكم او د بدونه به د منع كول نه كول

عَنِ الْمُنْكَرِ وَاٰتِيهِ

هغه به اووائي ما خو داسے کول لیکن نورو ته مے د ښو خبرو حکم کوو او پخپله مے ښۀ نۀ کول او نور به مے د بدو خبرو نه منع کول لیکن پخپله به نۀ منع کیدم.

عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ فَقَالَ رَجُلٌ مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَدْخُلَ عَلَى عُثْمَانَ فَتُكَلِّمَهُ فِيمَا يَصْنَعُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِهِ

د ابووائل نه روایت دے چه مونږ د اسامه بن زید سره وو نو یو سړی هغوی ته اووے چه ته د عثمانؓ خواله ولے نۀ تلے او څۀ چه هغۀ کول د هغې په باره کښې د د هغوی سره خبره کولے بیائے د پورتنی حدیث پشان پوره حدیث بیان کړو.

بَابُ النَّهْيِ عَنْ هَتْكِ الْإِنْسَانِ سِتْرَ نَفْسِهِ

باب: انسان لره خپله پرده کهولاوه ول منع دی

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ كُلُّ أُمَّتِي مُعَافَاةٌ إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ وَإِنَّ مِنَ الْإِجْهَارِ أَنْ يَعْمَلَ الْعَبْدُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحُ قَدْ سَتَرَهُ رَبُّهُ فَيَقُوْلُ يَا فُلَانُ قَدْ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ فَيَبِيتُ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللّٰهِ عَنْهُ قَالَ زُهَيْرٌ وَإِنَّ مِنَ الْهِجَارِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي ټول امت ګناهونه به اوبخښلے شي مګر د هغه کسانو (نۀ بخښلے کیږي) چه هغه خپل ګناهونه ښکاره کوي او هغه داسے چه بنده د شپے یو کار اوکړي بیا سحر شي او الله تعالی د هغۀ ګناه پټه ساتلے وي او هغه بل ته اووائي چه اے فلانیه ما بیګا داسے داسے کار کړے دے. د شپے خو الله دده پرده اوساتله او ټوله شپه پټ وو او سحر دۀ پرده کهولاؤ کړه[1]

بَابُ تَشْمِيتِ الْعَاطِسِ وَكَرَاهَةِ التَّثَاؤُبِ

باب: د پرنجي کونکي جواب او د ارګمی او اوسیلی کراهت

[1] پټ ګناهونه خلقو ته ظاهرول ګناه کبیره ده چه نۀ معاف کیږي خکه چه په دے ګناه باندے بهادري او بے پرواهي ثابتیږي او صفا معلومیږي چه ظاهرونکے د الله تعالی نه نۀ یریږي او دا چه ځنے کم عقل واني د چا چه د الله نه پرده نشته د هغۀ د بنده نه پرده کول څۀ ضروري دي نو دوی په غلطه دي کچرے هغه اوشرمیږي او ظاهره ئے نۀ کړي نو کیدے شي چه الله د هغۀ پرده اوساتي او هر کله چه دے بے حیا شو او خپله پرده ئے پخپله ښکاره کړه نو د مغفرت او پرده پوشي لائق پاتے نۀ شو او په حدیث کښې راغلي دي چه د پټے ګناه نه پټه توبه کړي او د ښکاره ګناه نه په ظاهره توبه کړي دده دپاره چه نیك خلق خوشحاله شي او دده د توبے ګواهان شي یا نور ګناهګار دي اووینی او توبے ته تیار شي (تحفة الاخیار)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ عَطَسَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَانِ فَشَمَّتَ أَحَدَهُمَا وَلَمْ يُشَمِّتِ الْآخَرَ فَقَالَ الَّذِي لَمْ يُشَمِّتْهُ عَطَسَ فُلَانٌ فَشَمَّتَّهُ وَعَطَسْتُ أَنَا فَلَمْ تُشَمِّتْنِي قَالَ إِنَّ هٰذَا حَمِدَ اللهَ وَإِنَّكَ لَمْ تَحْمَدِ اللهَ

د انس بن مالك نه روايت دے. وائي چه د رسول الله ﷺ په مخکښ د وو سړو پرنجے اوکړو. حضرت ﷺ د يو د هغے جواب ورکړو او د هغهٔ دويم جواب ئے ورنهٔ کړو هغهٔ اووے دے اوپرنجيدهٔ نو تاسو ورله جواب ورکړو ليکن ځما د پرنجی جواب تاسو رانهٔ کړو. حضرت اوفرمائيل (دهٔ لره مے جواب ځکه ورکړو چه دهٔ د الله تعالی شکر ادا کړو. او تا شکر ادا نهٔ کړو[1].

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

حضرت انس رسول الله ﷺ د پورتنی حديث پشان روايت کړے.

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى أَبِي مُوسَى وَهُوَ فِي بَيْتِ بِنْتِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ فَعَطَسْتُ فَلَمْ يُشَمِّتْنِي وَعَطَسَتْ فَشَمَّتَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى أُمِّي فَأَخْبَرْتُهَا فَلَمَّا جَاءَهَا قَالَتْ عَطَسَ عِنْدَكَ ابْنِي فَلَمْ تُشَمِّتْهُ وَعَطَسَتْ فَشَمَّتَّهَا فَقَالَ إِنَّ ابْنَكِ عَطَسَ فَلَمْ يَحْمَدِ اللهَ فَلَمْ أُشَمِّتْهُ وَعَطَسَتْ فَحَمِدَتِ اللهَ فَشَمَّتُّهَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَحَمِدَ اللهَ فَشَمِّتُوهُ فَإِنْ لَمْ يَحْمَدِ اللهَ فَلَا تُشَمِّتُوهُ

د ابوبرده نه روايت دے زهٔ د ابوموسیٰ خواله لاړم هغهٔ د فضل بن عباس د لور په کور کښ وو (چه أم کلثوم نوم ئے وو. دا ړومبی د امام حسين په نکاح کښ وه د هغهٔ د طلاق ورکولو نه پس ابوموسیٰ د هغوی سره نکاح اوکړه) ما پرنجے اوکړو نو ابوموسیٰ جواب رانهٔ کړو (يعنی يَرْحَمُكَ اللهُ ئے اونهٔ وے. بيا أُم کلثوم پرنجے اوکړو نو هغے له ئے جواب ورکړو. هر کله چه زهٔ د خپلے مور خواله لاړم نو هغے ته مے دا حال بيان کړو. هر کله چه ابوموسیٰ د هغوی خواله راغے نو ځما مور ورته اووے چه ځما ځوئ او پرنجيدو نو تا جواب ورنهٔ کړو او هغه ښځه اوپرنجيده نو جواب دِ ورکړو. ابوموسیٰ اوے ستا ځوئ د پرنجی سره الحمد لله او نهٔ وے نو ما ځکه جواب ور نهٔ کړو. او هغے ښځے الحمد لله اووے نو ما ورله جواب ورکړو. ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو. هر کله چه ستاسو نه څوك اوپرنجيږی او د الله تعالی شکر ادا کړی (يعنی الحمد لله

---

[1] نووی وائی په کتاب السلام کښ ددے بحث تير شوے دے او د اهل ظاهرو په نزد د پرنجی جواب ورکول واجب دی او د امام مالك په نزد د فرض کفايه دی او د شافعی او اکثرو علماؤ په نزد سنت دی.



اووائي، نو هغه ته جواب ورکوئ او چه الحمد لله او نهٔ وائي هغهٔ ته جواب مهٔ ورکوئ.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُ يَرْحَمُكَ اللهُ ثُمَّ عَطَسَ أُخْرَى فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ الرَّجُلُ مَزْكُومٌ

د سلمه بن اکوع نه روایت دے چه یو سړے د رسول الله ﷺ په مخکښې پرنجے اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل يَرْحَمُكَ اللهُ. بیا هغه اوپرنجیدهٔ. حضرت ﷺ اوفرمائیل دهٔ ته زکام شروع شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ التَّثَاؤُبُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ

د ابوهریرة نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي ارګمے د شیطن د طرفه دے (خکه چه هغه د سُستۍ او درونډ والي نخښه ده او د بد هضمۍ) پس هر کله چه ستاسو نه چاله ارګمے ورشي نو هغه د بنده وی څومره چه ترے کیدے شي (یعني په خلهٔ د لاس اړدي)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يُحَدِّثُ أَبِي عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَثَاوَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهِ عَلَى فِيهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ

د ابوسعید خدري نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي هر کله چه څوك ستاسو نه ارګمے کوي نو خپل لاس د په خلهٔ باندے اړدي خکه چه شیطان (مچ یا چینجے، یا مچۍ وغیره بعضے وخت) د ننه لاړ شي یا په حقیقت کښې شیطان ننوځي. (او دغه صحیح ده)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا تَثَاوَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ

د ابوسعید خدري نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلي دي. هر کله چه په تاسو کښې چا ته ارګمے راشي نو خپل لاس د په خپله خلهٔ اړدي خکه چه شیطان خلے ته ننوځي.

عَنِ ابْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَثَاوَبَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ

د ابوسعید خدري نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي هر کله چه ستاسو نه چا ته په مانځهٔ کښې ارګمے ورشي نو څومره چه کیدے شي بنده وی دے خکه چه شیطان د ننه داخلیږي (په زړهٔ کښې د وسوسے غورځولو دپاره. او د مونځ خطا کولو دپاره.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ بِشْرٍ وَعَبْدِ الْعَزِيزِ

د ابوسعید خدري نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل څنګه چه د بشر او د عبد العزیز په حدیث کښې دي.

بَابُ فِي أَحَادِيثِ مُتَفَرِّقَةٍ

باب : د مختلفو حدیثونو بیان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. فرښتې د نُور نه جوړې شوې دی او پیریان د اُور د لوګی نه. او آدم علیه السلام د هغه څۀ نه کوم چه په قرآن کښې بیان شو یعنې د خاورې نه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُقِدَتْ أُمَّةٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَا يُدْرَى مَا فَعَلَتْ وَلَا أُرَاهَا إِلَّا الْفَأْرَ أَلَا تَرَوْنَهَا إِذَا وُضِعَ لَهَا أَلْبَانُ الْإِبِلِ لَمْ تَشْرَبْهُ وَإِذَا وُضِعَ لَهَا أَلْبَانُ الشَّاءِ شَرِبَتْهُ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَحَدَّثْتُ هَذَا الْحَدِيثَ كَعْبًا فَقَالَ آنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ ذَلِكَ مِرَارًا قُلْتُ أَأَقْرَأُ التَّوْرَاةَ و قَالَ إِسْحَقُ فِي رِوَايَتِهِ لَا نَدْرِي مَا فَعَلَتْ

د ابوهریره نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي د بنی اسرائیلو یو جماعت ورك شوے وو معلومه نۀ ده چه هغه چرته لاړو. خما خیال دے چه هغه جماعت منګکان دی (مسخ شوی دی) اے تاسو نۀ ګورئ هر کله چه منګکانو ته د اوښ پئ کیږدے نو هغه ئے نۀ څښي. او چه د بزے پئ ورته کیږدے نو هغه څښي. (لکه دا قرینه ده چه منګکان هغه د بنی اسرائیلو خلق دی کوم چه مسخ شوی وو. اګر چه ژوندی پاتے شوی نۀ دی خو خکه چه په بنی اسرائیلو کښې د اوښ غوښه او د اوښ پئ حرام وو) ابوهریره وائي دا حدیث ما کعب ته بیان کړو. هغوی اووے دا تا د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے. ما اووے آو. هغوی بیا څو څو ځله تپوس اوکړو. ما اووے ولے زۀ تورات لولم (چه په هغے کښې مے دا روایت لیدلے دے ما خو تول علم د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ الْفَأْرَةُ مَسْخٌ وَآيَةُ ذَلِكَ أَنَّهُ يُوضَعُ بَيْنَ يَدَيْهَا لَبَنُ الْغَنَمِ فَتَشْرَبُهُ وَيُوضَعُ بَيْنَ يَدَيْهَا لَبَنُ الْإِبِلِ فَلَا تَذُوقُهُ فَقَالَ لَهُ كَعْبٌ أَسَمِعْتَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَفَأُنْزِلَتْ عَلَيَّ التَّوْرَاةُ

د ابوهریره نه روایت دے وائي چه منګك بنیادم دے چه مسخ شوے دے. او د هغے دلیل دا دے چه د منګك مخے ته د بزے پئ کیږده نو څښي ئے. او د اوښ ورته کیږده نو ئې نۀ څښي. کعب اووے ولے تا دا د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی. ابوهریره اووے چه نۀ دی نو ولے په ما باندے څۀ تورات نازل شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. مؤمن د

وَسَلَّمَ قَالَ لاَ يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ

يو سوړې نه دوه ځله نه چيچلې کيږي (يعنې مؤمن له هوښياريدل لازم دي او هغه دا چه په يوه معامله کښې يو ځل خطا شي نو بيا دې نه کوي. مَنْ جَرَّبَ الْمُجَرَّبَ حَلَّتْ بِهِ النَّدَامَةُ دغه مضمون دے. او ځنې وائي دا حديث د آخرت په کارونو کښې دے. او دا حديث حضرت ﷺ هغه وخت فرمائيلې دے کله چه به يو شاعر د حضرت ﷺ هجوه کوله قيد کړے وو. او بيائے په احسان سره مفت آزاد کړو په دے شرط چه بيا به د حضرت ﷺ هجوه نه کوي. ليکن هغه د ازاديدو نه پس بيا دغه شرارت اوکړو. نو بيائے اونيوؤ. نو هغه بيا د مفت پريخودو درخواست اوکړو. دغه وخت حضرت ﷺ دا حديث اوفرمائيلو (د هغه شاعر نوم اباغرة وو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

ابوهريرة د نبي ﷺ نه د پورتنی حديث پشان روايت کړو.

عَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَاكَ لِأَحَدٍ إِلاَّ لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ

د صهيب نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. د مؤمن هم عجيبه حال دے. د هغهٔ ثواب چرته نهٔ دے تلے. دا خبره هيچا ته هم حاصله نهٔ ده کچرے هغهٔ ته خوشحالي حاصله شي نو هم شکر ادا کړي په دے کښې هم ثواب دے. او د نقصان په رسيدو باندے صبر کوي په دے کښې هم ثواب دے.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْمَدْحِ إِذَا كَانَ فِيهِ إِفْرَاطٌ وَخِيفَ مِنْهُ فِتْنَةٌ عَلَى الْمَمْدُوحِ

باب: د تعريف کولو نه ممانعت هر کله چه په هغے کښې د مبالغے ګڼون وي او د تعريف کړے شوی په فتنه کښې د راګيريدو خطره وي

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ مَدَحَ رَجُلٌ رَجُلاً عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د ابوبکرة نه روايت دے وائي چه يو سړي د رسول الله ﷺ په مخکښې د يو سړي تعريف اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل. افسوس

فَقَالَ وَيْحَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ مِرَارًا إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ مَادِحًا صَاحِبَهُ لَا مُحَالَةَ فَلْيَقُلْ أَحْسِبُ فُلَانًا وَاللهُ حَسِيبُهُ وَلَا أُزَكِّي عَلَى اللهِ أَحَدًا أَحْسِبُهُ إِنْ كَانَ يَعْلَمُ ذَاكَ كَذَا وَكَذَا

تا د خپل رور څټ اووهو تا د خپل رور څټ اووهو. څو خله حضرت ﷺ داسې اوفرمائيل هركله چه څوك ستاسو نه د خپل رور خامخا تعريف كول غواړي نو داسې دِ وائي. خما خيال دے نور الله ښه خبر دے زهٔ ئې د زړهٔ په حال خبر نهٔ يم يا د انجام علم ئې خاص الله لره دے خما دا خيال دے چه هغه داسې داسې دے. كچرے ئې د دغه خبرے نه خبر وي[1].

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذُكِرَ عِنْدَهُ رَجُلٌ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ مَا مِنْ رَجُلٍ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ مِنْهُ فِي كَذَا وَكَذَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْحَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ مِرَارًا يَقُولُ ذٰلِكَ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كَانَ أَحَدُكُمْ مَادِحًا أَخَاهُ لَا مُحَالَةَ

د ابوبكرهؓ نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ په مخكښې د يو سړي ذكر راغے. يو سړي اووے يا رسول الله ﷺ د الله د رسول اللهؐ نه روستو يو سړے د هغهٔ نه غوره نشته په فلاني فلاني كار. رسول الله ﷺ اوفرمائيل. افسوس تا د خپل ملګري څټ كټ كړو. څو خله ئې دا اوفرمائيل. بيا ئې اوفرمائيل. كچرے ستاسو نه څوك د خپل رور تعريف خامخا كول غواړي. نو داسې دِ وائي چه خما خيال دے (كچرے هغه واقعي داسې وي) چه هغه داسې دے. او پاكي نهٔ بيانوئ د الله په موجودګئ كښې بل هيچا لره يعني معلومه نهٔ ده چه

---

[1] نوويؒ وائي امام مسلمؒ د تعريف د ممانعت په باره كښې څو احاديث بيان كړي دي. او په صحيحينو كښې ډير حديثونه داسې دي چه د هغې نه په خلهٔ باندے د تعريف كولو جواز معلوميږي. او صحيح داده چه ممانعت هله دے هر كله چه په تعريف كښې مبالغه او افراط اوكړي يا د تعريف كونكي په تعريف سره په هغهٔ كښې د تكبر او غرور راتلو يره وي نو هغه ئې تباه كړو دغه مراد دے د څټ كټ كولو نه البته كوم بنده چه ديندار وي او د تعريف سره پكښې د غرور پيدا كيدو يره نهٔ وي. نو د هغهٔ تعريف كول منع نهٔ دي په دے شرط چه مبالغه نهٔ وي بلكه كهٔ په دے نيت سره ئې تعريف اوكړي چه هغه نيكي زياته كوي يا نورو ته د نيكئ د كار كولو ترغيب وركوي نو دا مستحب دي. انتهي

د اردو كتاب مترجم وائي زمونږ په دے زمانه كښې يو تعريف كونكے داسې نشته اِلّا ماَشاء الله چه د تعريف كيدونكي په خلهٔ كښې خاورے نهٔ اچوي دا خلق په تعريف كښې دومره مبالغه كوي چه معاذ الله د دروغو د لي پرے تري. د يو يو كلي حاكم ته چه د هغهٔ څهٔ وقعت نهٔ وي هغهٔ ته بادشاه او ظل الله او سلطان او مرجع عالم او جهان پناه او معلومه نهٔ ده چه څهٔ څهٔ لغوه خبرے كوي. او د بادشاه خو تپوس مهٔ كوه هغهٔ ته خو شهنشاه جهان پناه راكړه. هغه الفاظ وائي اوليكي چه د الله نه علاوه د بل چا سره نهٔ ښائي د هغوي ژبے د الله كټ كړي. دغه شان هغه خلق هم دي چه په خط و كتابت كښې او عريضو ليكلو كښې مكتوب اليه ته بے حده القاب ليكي. هغه هم دروغژن او ګنهګار دي. او د قيامت په ورځ د هغوي نه به په دغه دروغو باندے مواخذه وي.

فَلْيَقُلْ أَحْسِبُ فُلَانًا إِنْ كَانَ يُرَى أَنَّهُ كَذٰلِكَ وَلَا أُزَكِّي عَلَى اللهِ أَحَدًا

هغه د الله په نز ځئ د ے ولے چه دا علم علاوه د الله نه بل چا ته نشته یا چا ته چه ئے الله اوبنائی)

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ يَزِيدَ بْنِ زُرَيْعٍ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِمَا فَقَالَ رَجُلٌ مَا مِنْ رَجُلٍ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَفْضَلُ مِنْهُ

د شعبه نه په د ے اسناد سره د یزید بن زریع د حدیث پشان روایت د ے او په د ے کښ دا نشته چه د الله د رسول نه روستو د هغهٔ نه ښوك غوره نشته

عَنْ أَبِي مُوسٰى قَالَ سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُثْنِي عَلَى رَجُلٍ وَيُطْرِيهِ فِي الْمِدْحَةِ فَقَالَ لَقَدْ أَهْلَكْتُمْ أَوْ قَطَعْتُمْ ظَهْرَ الرَّجُلِ

د ابوموسیٰؓ نه روایت د ے وائی چه رسول الله ﷺ واوریدل چه یو سړی تعریف کولو د بل سړی چه د مبالغے سره وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل تا هلاك کړو یا د پریکړه د هغه سړی شا لره.

عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ قَالَ قَامَ رَجُلٌ يُثْنِي عَلَى أَمِيرٍ مِنَ الْأُمَرَاءِ فَجَعَلَ الْمِقْدَادُ يَحْثِي عَلَيْهِ التُّرَابَ وَقَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَحْثِيَ فِي وُجُوهِ الْمَدَّاحِينَ التُّرَابَ

د ابو معمر نه روایت د ے چه یو سړے د امیرانو نه د یو امیر تعریف کولو مقداد بن الاسودؓ په هغهٔ باند ے خاور ے غورځول شروع کړل او اوئ ے وئیل حکم کړ ے د ے مونږ ته رسول الله ﷺ د خاورو اچولو د تعریف کونکو په مخ باند ے. (مراد تر ے په حقیقت کښ خاور ے اچول دی لکه چه مقدادؓ اوکړو یا نا امیده کول دی یا ځئ نه ورکول یا مطلب دا د ے چه ته د هغوی په مخکښ پخپل مخ باند ے خاور ے واچوه. یعني خپله عاجزی او ذلت بیان کړه مغرور نهٔ شې)

•

عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّ رَجُلًا جَعَلَ يَمْدَحُ عُثْمَانَ فَعَمِدَ الْمِقْدَادُ فَجَثَا عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَكَانَ رَجُلًا ضَخْمًا فَجَعَلَ يَحْثُو فِي وَجْهِهِ الْحَصْبَاءَ فَقَالَ لَهُ عُثْمَانُ مَا شَأْنُكَ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْمَدَّاحِينَ فَاحْثُوا فِي وُجُوهِهِمُ التُّرَابَ

د همام بن حارث نه روایت د ے چه یو سړی د حضرت عثمانؓ تعریف شروع کړل مقدادؓ د زنګونانو په سر کیښناستو او هغه خورب سړے وو او د تعریف کونکی مخ ئ ے په ګیټو باند ے ویشتلو. حضرت عثمانؓ اوو ے ا ے مقداده دا پتا ځهٔ اوشو. هغهٔ اوو ے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه تاسو تعریف کونکی او وینئ نو په مخونو ئ ے خاور ے اچوئ.

عَنِ الْمِقْدَادِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

مقدادؓ د رسول الله ﷺ نه د پورتنی حدیث پشان روایت کړو.

عَنْ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرَانِي فِي الْمَنَامِ أَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ فَجَذَبَنِي رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الْأَصْغَرَ مِنْهُمَا فَقِيلَ لِي كَبِّرْ فَدَفَعْتُهُ إِلَى الْأَكْبَرِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل زۀ په خوب کښې وينمه چه مسواک کوم نو دوو سړو زۀ رابنکودم يو لوئے وو او بل وړوکے وو. ما هغه وړوکی ته مسواک ورکړو ماته اوونيلے شو چه دے لوئے له ئے ورکړه (معلومه شوه چه د لويو عظمت کول پکار دی او دا په ادب کښې داخل دی.

بَابُ التَّثَبُّتِ فِي الْحَدِيثِ وَحُكْمِ كِتَابَةِ الْعِلْمِ

باب: خبره د پوهه سره وئيل او علم لره ليکل

عَنْ عُرْوَةَ قَالَ كَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ وَيَقُولُ اسْمَعِي يَا رَبَّةَ الْحُجْرَةِ اسْمَعِي يَا رَبَّةَ الْحُجْرَةِ وَعَائِشَةُ تُصَلِّي فَلَمَّا قَضَتْ صَلَاتَهَا قَالَتْ لِعُرْوَةَ أَلَا تَسْمَعُ إِلَى هَذَا وَمَقَالَتِهِ آنِفًا إِنَّمَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ حَدِيثًا لَوْ عَدَّهُ الْعَادُّ لَأَحْصَاهُ

د عروه نه روايت دے وائی چه ابوهريره ؓ حديث بيانولو او اوئے وئيل اے حجرے والا اے حجرے والا. او حضرت عائشے ؓ مونځ کولو. چه مونځ ئے اوکړو نو عروه ته ئے اووے. تا د ابوهريره ؓ خبرے اوريدے (په دومره ساعت کښې هغوی څو حديث بيان کړل او رسول الله ﷺ به په دے شان خبرے کولے چه شمارونکی کۀ غوښتے نو شمارلے به ئے وے. (يعنی روړ په قلاره خبرے کول بنه تهذيب دے. زر زر او په تادئ تادئ خبرے کول د عقلمندئ طريقه نۀ ده)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَكْتُبُوا عَنِّي وَمَنْ كَتَبَ عَنِّي غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ وَحَدِّثُوا عَنِّي وَلَا حَرَجَ وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ قَالَ هَمَّامٌ أَحْسِبُهُ قَالَ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ

د ابوسعيد خدری ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. مۀ ليکئ خما کلام لره او چا چه خما نه واوريدۀ او اوئے ليکۀ نو هغه دې وران کړی مګر قرآن د نه ورانوی. البته خما حديث بيانوئ په دے کښې څۀ حرج نشته او څوک چه قصداً په ما باندے درغو اوتړی هغه خپل ځائے په جهنم کښې جوړ وی[1].

---

[1] قاضی عياض وائی په سلفو صحابو او تابعينو کښې غټ اختلاف وو د علم په ليکلو کښې. زياتو ورته مکروه وئيلی دی. ليکن زياتو جائز کړی هم دی بيا د هغے نه پس د دے په جواز باندے اجماع اوشوه او اختلاف ختم شو. او په دے حدوث کښې چه کوم ممانعت دے هغه محمول دے د ښۀ حافظے په خاوند باندے ليکن په ليکلو کښې به هغۀ ته يره وی په کتابت باندے د اعتماد کولو. او د چا چه حافظه ښۀ نۀ وی هغۀ ته د ليکلو اجازت دے. او حکم ورکړے دے حضرت ﷺ د ابوشاه دپاره ليکلو. او د دغے قسم نه صحيفه

بَابُ قِصَّةِ أَصْحَابِ الْأُخْدُودِ

عَنْ صُهَيْبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ مَلِكٌ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ وَكَانَ لَهُ سَاحِرٌ فَلَمَّا كَبِرَ قَالَ لِلْمَلِكِ إِنِّي قَدْ كَبِرْتُ فَابْعَثْ إِلَيَّ غُلَامًا أُعَلِّمْهُ السِّحْرَ فَبَعَثَ إِلَيْهِ غُلَامًا يُعَلِّمُهُ فَكَانَ فِي طَرِيقِهِ إِذَا سَلَكَ رَاهِبٌ فَقَعَدَ إِلَيْهِ وَسَمِعَ كَلَامَهُ فَأَعْجَبَهُ فَكَانَ إِذَا أَتَى السَّاحِرَ مَرَّ بِالرَّاهِبِ وَقَعَدَ إِلَيْهِ فَإِذَا أَتَى السَّاحِرَ ضَرَبَهُ فَشَكَا ذَلِكَ إِلَى الرَّاهِبِ فَقَالَ إِذَا خَشِيتَ السَّاحِرَ فَقُلْ حَبَسَنِي أَهْلِي وَإِذَا خَشِيتَ أَهْلَكَ فَقُلْ حَبَسَنِي السَّاحِرُ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أَتَى عَلَى دَابَّةٍ عَظِيمَةٍ قَدْ حَبَسَتِ النَّاسَ فَقَالَ الْيَوْمَ أَعْلَمُ آلسَّاحِرُ أَفْضَلُ أَمِ الرَّاهِبُ أَفْضَلُ فَأَخَذَ حَجَرًا فَقَالَ اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ أَمْرُ الرَّاهِبِ أَحَبَّ إِلَيْكَ مِنْ أَمْرِ السَّاحِرِ

باب: د اصحاب الأُخدود قصه[1]

د صهیب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. ستاسو نه مخکښې یو بادشاه وو او د هغهٔ یو جادوګر وو. هر کله چه هغه جادوګر بډها شو نو بادشاه ته ئے اووے زهٔ بوډا شوے یم ماله یو هلك راکړه چه زهٔ ورته جادو اوښایم. بادشاه هغهٔ ته یو هلك اولیږو او هغه به ورته جادو ښودلو. دد ے هلك د تلو راتلو په لاره کښې د یو راهب مقام وو (نصرانی درویش یعنی پادری تارك الدنیا) هغه هلك به د هغهٔ سره کیناستو او د هغهٔ کلام به ئے اوریدو او هغهٔ ته به ښهٔ معلومیدهٔ. هر کله چه به جادوګر له تلو نو د راهب په طرف به رااووتو او د هغهٔ سره به کیناستو. بیا چه به هر کله د جادوګر خواله لاړو نو جادوګر به اووهو. آخر هلك د جادوګر د وهلو راهب ته ګله اوکړه. راهب ورته اووے کله چه تهٔ د جادوګر نه یریږے. نو دا ورته اووایه چه ځما کور والاؤ زهٔ حصار کړے وم. او کله چه د خپل کور والانه یریږے نو ورته وایه چه جادوګر حصار کړے وم. پس په دے حالت کښې هغه هلك ژوند تیر وو چه ناڅاپه د یو لوئے قد په ځناور باندے تیریدو چه هغه ځناور خلقو لره د تګ را تګ نه منع کړی وو. هلك اووے نن زهٔ معلوموم چه جادوګر غوره دے او کهٔ دا راهب. هغهٔ یوه ګټه راواخسته او اوئے وئیل الهی کچرے د راهب طریقه تا ته غوره وی د جادوګر د طریقے

حضرت علی رضی الله عنه او کتاب عمرو بن حزم او کتاب د صدقے او زکوٰة. او ابوهریره رضی الله عنه روایت کړے دے چه عبد الله بن عمرو رضی الله عنه لیکلی وو او مالیکلی نهٔ وو. او بعضے وائی چه دا حدیث حضرت ﷺ ته یره وه چه چرته قرآن او حدیث یو ځائے نهٔ شی. هر کله چه هغوی ته اطمینان راغے نو ئے لیکول اجازت ئے اوکړو. او ځنے وائی مطلب دد ے حدیث دا دے چه قرآن او ځما حدیث په یو کتاب کښې په یو ځائے مهٔ لیکئ: دد ے دپاره چه لوستونکو ته شبه نهٔ وی. (نووی)

[1] د أُخدود معنی خندق او د هغے جمع اخادید ده. په قرآن کښې په سورة بروج کښې د هغه خندق والاؤ ذکر دے. الله تعالی فرمائیلی دی. قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ په دے حدیث کښې د هغوی ټوله قصه ذکر ده.

فَاقْتُلْ هٰذِهِ الدَّابَّةَ حَتّٰى يَمْضِيَ النَّاسُ فَرَمَاهَا فَقَتَلَهَا وَمَضَى النَّاسُ فَأَتَى الرَّاهِبَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ لَهُ الرَّاهِبُ أَيْ بُنَيَّ أَنْتَ الْيَوْمَ أَفْضَلُ مِنِّي قَدْ بَلَغَ مِنْ أَمْرِكَ مَا أَرَى وَإِنَّكَ سَتُبْتَلَى فَإِنِ ابْتُلِيتَ فَلَا تَدُلَّ عَلَيَّ وَكَانَ الْغُلَامُ يُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَيُدَاوِي النَّاسَ مِنْ سَائِرِ الْأَدْوَاءِ فَسَمِعَ جَلِيسٌ لِلْمَلِكِ كَانَ قَدْ عَمِيَ فَأَتَاهُ بِهَدَايَا كَثِيرَةٍ فَقَالَ مَا هَاهُنَا لَكَ أَجْمَعُ إِنْ أَنْتَ شَفَيْتَنِي فَقَالَ إِنِّي لَا أَشْفِي أَحَدًا إِنَّمَا يَشْفِي اللهُ فَإِنْ أَنْتَ آمَنْتَ بِاللهِ دَعَوْتُ اللهَ فَشَفَاكَ فَآمَنَ بِاللهِ فَشَفَاهُ اللهُ فَأَتَى الْمَلِكَ فَجَلَسَ إِلَيْهِ كَمَا كَانَ يَجْلِسُ فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ مَنْ رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ قَالَ رَبِّي قَالَ وَلَكَ رَبٌّ غَيْرِي قَالَ رَبِّي وَرَبُّكَ اللهُ فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ حَتّٰى دَلَّ عَلَى الْغُلَامِ فَجِيءَ بِالْغُلَامِ فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ أَيْ بُنَيَّ قَدْ بَلَغَ مِنْ سِحْرِكَ مَا تُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَتَفْعَلُ وَتَفْعَلُ فَقَالَ إِنِّي لَا أَشْفِي أَحَدًا إِنَّمَا يَشْفِي اللهُ فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ حَتّٰى دَلَّ عَلَى الرَّاهِبِ فَجِيءَ بِالرَّاهِبِ

نه نو دا ښناور قتل کړه چه خلق په لاره خې راځي. بيانے يې په هغه گټه گزار اوکړو نو هغه ښناور مړ شو او خلقو تلل راتلل شروع کړل بيا هغه هلك د راهب خواله راغے او هغه ته ئے دا حال اووے. هغهٔ اووے بچيه تهٔ ښما نه هم مخکښې لاړے. يقيناً ستا رتبه ددے پورے اورسيده څهٔ چه زهٔ وينمه او تهٔ به ډير زر په ازميښت کښې راشې. خو کچرے په ازمائش کښې راغلے نو ښما نوم مهٔ ښايه او ددے هلك په لاس به الله تعالى ړاندهٔ او برگى والاخلق ښهٔ کوؤ. او د هر قسم بيمارئ علاج به ئے کولو. پس دا خبره د بادشاه يو مجلسى واوريده. او هغه ړوند شوے وو نو هغه ډيرے تحفے راواخستے او د هلك خواله راغے او اوئے وئيل کچرے زهٔ د ښهٔ کړم نو دا هر څهٔ ستا دى. هلك اووے زهٔ څوك نهٔ شم ښهٔ کولے ښهٔ کول خو د الله کار دے. کچرے تا په الله باندے ايمان راوړو نو زهٔ به د الله نه دُعا اوغواړم هغه به تا ښهٔ کړى. مجلسى په الله باندے ايمان راوړو او الله هغه ښهٔ کړو. مجلسى چه د بادشاه خواله لاړو او د نور کله پشان د هغهٔ سره کيناستو. بادشاه ورته اووے. ستا سترگے چا روښانه کړے. مجلسى اووے ښما مالك بادشاه اووے ښما نه علاوه ستا څوك مالك دے؟ مجلسى اووے ښما او ستا د دواړو مالك الله دے. بادشاه هغهٔ اونيو او وهلو وهلو ئے تردے پورى چه هغه د هلك نوم واخستو. هغه هلك ئے راواوغوښتو او بادشاه ورته اووے. اے بچيه! تهٔ په جادو کښې دے درجے ته اورسيدے چه ړاندهٔ او برگى والا ښهٔ کوے او لوئے لوئے کارونه کوے. هلك اووے زهٔ هيڅوك نهٔ شم ښهٔ کولے الله ښهٔ کول کوى. بادشاه هغه اونيوۀ او وهو ئے ترد ے پورے چه هغه د راهب نوم واخستو. هغه راهب ئے نيولے راوستهٔ او ورته ئے اووے چه د خپل دين

فَقِيلَ لَهُ ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ فَأَبَى فَدَعَا بِالْمِنْشَارِ فَوَضَعَ الْمِنْشَارَ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ فَشَقَّهُ حَتَّى وَقَعَ شِقَّاهُ ثُمَّ جِيءَ بِجَلِيسِ الْمَلِكِ فَقِيلَ لَهُ ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ فَأَبَى فَوَضَعَ الْمِنْشَارَ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ فَشَقَّهُ بِهِ حَتَّى وَقَعَ شِقَّاهُ ثُمَّ جِيءَ بِالْغُلَامِ فَقِيلَ لَهُ ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ فَأَبَى فَدَفَعَهُ إِلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ اذْهَبُوا بِهِ إِلَى جَبَلِ كَذَا وَكَذَا فَاصْعَدُوا بِهِ الْجَبَلَ فَإِذَا بَلَغْتُمْ ذُرْوَتَهُ فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِينِهِ وَإِلَّا فَاطْرَحُوهُ فَذَهَبُوا بِهِ فَصَعِدُوا بِهِ الْجَبَلَ فَقَالَ اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ فَرَجَفَ بِهِمُ الْجَبَلُ فَسَقَطُوا وَجَاءَ يَمْشِي إِلَى الْمَلِكِ فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ مَا فَعَلَ أَصْحَابُكَ قَالَ كَفَانِيهِمُ اللَّهُ فَدَفَعَهُ إِلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ اذْهَبُوا بِهِ فَاحْمِلُوهُ فِي قُرْقُورٍ فَتَوَسَّطُوا بِهِ الْبَحْرَ فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِينِهِ وَإِلَّا فَاقْذِفُوهُ فَذَهَبُوا بِهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ فَانْكَفَأَتْ بِهِمُ السَّفِينَةُ فَغَرِقُوا وَجَاءَ يَمْشِي إِلَى الْمَلِكِ فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ مَا فَعَلَ أَصْحَابُكَ. قَالَ كَفَانِيهِمُ اللَّهُ

نه واپس شه راهب نۀ منله بادشاه یوه آره رااوغوښته او د راهب د کوپړئ په مینځ ئے کینبوده او هغه ئے آره کړو. تردے پورے چه دوه ټکړے اوغورځیدو. بیا هغه خپل مجلسی رااوغوښتو هغۀ ته ئے هم اووے چه تۀ د خپل دین نه واپس شه هغه هم انکار اوکړو. د هغۀ د کوپړئ په مینځ ئے هم آره کینبوده او اوئے څیرلو. تردے پورے چه دوه ټکړے اوغورځیدۀ. بیائے هغه هلك رااوغوښتو او هغۀ ته ئے اووے د خپل دین نه واپس شه هغۀ هم انکار اوکړو بادشاه هغه خپلو یو څو نوکرانو ته حواله کړل او ورته ئے اووے چه دے د فلانی غر کوکے ته اوخیژوئ او چه هر کله ئے څوکے ته اورسوئ نو تپوس ترے اوکړئ کۀ د خپل دین نه واپس کیږی نو خیر دے او کۀ نۀ واپس کیږی نو تیله ورکړئ چه اورغړی. هغوی هغه هلك روان کړو او د غر څوکے ته ئے اوخیژوو. هلك دعا اوکړه الهی تۀ په څۀ طریقه ما د دوی د شر نه بچ کړے. هغه غر اوخوزیدو او خلق ټول اوغورځیدل او هلك د بادشاه خوالۀ واپس راغے. بادشاه ترے تپوس اوکړو ستا هغه ملګری چرته لاړو. هلك اووے الله ماله د هغوی د شر نه پناه راکړه بادشاه هغه بیا خپلو څو نوکرانو ته حواله کړو او ورته ئے اووے چه دے بوځئ او یوے ناوے ته ئے اوخیژوئ کۀ د خپل دین نه واپس شو نو خیر دے ورنه بیائے د دریاب مینځ ته اوغورځوئ خلقو هغه هلك روان کړو نو هغۀ سوال اوکړو چه یا الله تۀ پخپله خوښه ما د دوی د شر نه بچ کړه. هغه کشتئ الټه شوه او د هلك ملګری ټول ډوب شول او هلك ژوندے د بادشاه خواله راغے. بادشاه ترے تپوس اوکړو ستا هغه ملګری چرته لاړل؟ هلك اووے الله پاك د هغوی نه زۀ بچ اوساتلم بیا هلك بادشاه ته اووے چه تۀ ما نۀ شے وژلے تر هغے پورے چه زۀ تا ته

فَقَالَ لِلْمَلِكِ إِنَّكَ لَسْتَ بِقَاتِلِي حَتَّى تَفْعَلَ مَا آمُرُكَ بِهِ قَالَ وَمَا هُوَ قَالَ تَجْمَعُ النَّاسَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ وَتَصْلُبُنِي عَلَى جِذْعٍ ثُمَّ خُذْ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِي ثُمَّ ضَعِ السَّهْمَ فِي كَبِدِ الْقَوْسِ ثُمَّ قُلْ بِاسْمِ اللهِ رَبِّ الْغُلَامِ ثُمَّ ارْمِنِي فَإِنَّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذٰلِكَ قَتَلْتَنِي فَجَمَعَ النَّاسَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ وَصَلَبَهُ عَلَى جِذْعٍ ثُمَّ أَخَذَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ ثُمَّ وَضَعَ السَّهْمَ فِي كَبِدِ الْقَوْسِ ثُمَّ قَالَ بِاسْمِ اللهِ رَبِّ الْغُلَامِ ثُمَّ رَمَاهُ فَوَقَعَ السَّهْمُ فِي صُدْغِهِ فَوَضَعَ يَدَهُ فِي صُدْغِهِ فِي مَوْضِعِ السَّهْمِ فَمَاتَ فَقَالَ النَّاسُ آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ فَأُتِيَ الْمَلِكُ فَقِيلَ لَهُ أَرَأَيْتَ مَا كُنْتَ تَحْذَرُ قَدْ وَاللهِ نَزَلَ بِكَ حَذَرُكَ قَدْ آمَنَ النَّاسُ فَأَمَرَ بِالْأُخْدُودِ فِي أَفْوَاهِ السِّكَكِ فَخُدَّتْ وَأَضْرَمَ النِّيرَانَ وَقَالَ مَنْ لَمْ يَرْجِعْ عَنْ دِينِهِ فَأَحْمُوهُ فِيهَا أَوْ قِيلَ لَهُ اقْتَحِمْ فَفَعَلُوا حَتَّى جَاءَتِ امْرَأَةٌ وَمَعَهَا صَبِيٌّ لَهَا فَتَقَاعَسَتْ أَنْ تَقَعَ فِيهَا فَقَالَ لَهَا الْغُلَامُ يَا أُمَّهْ اصْبِرِي

اوبښایم او هغه اوکړے. بادشاه اووے هغه څۀ دی؟ هغۀ اووے ته تول خلق په یو میدان کښې راجمع کړه او په یو لرګی کښې ما زوړند کړه. بیا خما د ترکش نه یو غشے راواخله او په لینده کښې ئے کیږده او اووایه چه د الله په نوم سره چه ددے هلك رب دے اولم. بیا غشے اووله کۀ تۀ داسے اوکړے نو ما به قتل کړے. بادشاه تول خلق په یو میدان کښې را جمع کړو او هلك ته ئے په یو لرګی کښې زوړند کړو. بیا ئے د هغۀ د ترکش نه یو غشی رااوویستو او غشے ئے په لینده کښې دننه کیښودۀ او اوئے وئیل د هغه الله په نوم غشے اولم چه ددے هلك پالونکے دے او غشے ئے اوویشتو نو د هلك په تندی اولګیدۀ. هغه خپل لاس د غشی په مقام باندے کیښودو او مړ شو. نورو خلقو چه دا حال اولیدو نو اوئے وئیل چه ایمان راوړے دے موږ په رب ددے هلك باندے. ایمان راوړے دے موږ په رب ددے هلك باندے ایمان راوړے دے موږ په رب ددے هلك باندے. چا بادشاه ته اووے چه تۀ د څۀ نه یریدے په الله قسم دے هم هغه اوشوه یعنی خلقو ایمان راوړو. بادشاه حکم اوکړو د لارو په شارو باندے د خندقونو د کنستلو پس خندقونه اوکنستے شو او په هغے کښې ئے دننه ډیر اُور بل کړو او حکم ئے اوکړو کوم سړے چه ددے دین نه (یعنی د هلك ددے دین نه) واپس نۀ شو نو هغه د دے خندقونو ته اوغورځولے شی یا ورته اووایئ چه دے خندقونو ته اوغورځیږئ. خلقو داسے اوکړل تردے پورے چه یوه ښځه راغله د هغے سره یو بچے هم وو نو ښځه د اُور د غورځیدو نه لږه روسته شوه. نو بچی ورته اوویل اے مورے صبر کوه تۀ په حق رښتونی دین باندے ئے. (او د مرګ نه پس خو آرام آرام دے نو ددنیاد مصیبتونو نه ولے یریږے) نووی" وائی ددے

فَإِنَّكِ عَلَى الحَقِّ

بَابُ قِصَّةِ أَبِي الْيَسَرِ وَحَدِيثِ جَابِرٍ الطَّوِيلِ

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ خَرَجْتُ أَنَا وَأَبِي نَطْلُبُ الْعِلْمَ فِي هٰذَا الْحَيِّ مِنَ الْأَنْصَارِ قَبْلَ أَنْ يَهْلِكُوا فَكَانَ أَوَّلُ مَنْ لَقِينَا أَبَا الْيَسَرِ صَاحِبَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ غُلَامٌ لَهُ مَعَهُ ضِمَامَةٌ مِنْ صُحُفٍ وَعَلَى أَبِي الْيَسَرِ بُرْدَةٌ وَمَعَافِرِيٌّ وَعَلَى غُلَامِهِ بُرْدَةٌ وَمَعَافِرِيٌّ فَقَالَ لَهُ أَبِي يَا عَمِّ إِنِّي أَرَى فِي وَجْهِكَ سُفْعَةً مِنْ غَضَبٍ قَالَ أَجَلْ كَانَ لِي عَلَى فُلَانِ ابْنِ فُلَانٍ الْحَرَامِيِّ مَالٌ فَأَتَيْتُ أَهْلَهُ فَسَلَّمْتُ فَقُلْتُ ثَمَّ هُوَ قَالُوا لَا فَخَرَجَ عَلَيَّ ابْنٌ لَهُ جَفْرٌ فَقُلْتُ لَهُ أَيْنَ أَبُوكَ قَالَ سَمِعَ صَوْتَكَ فَدَخَلَ أَرِيكَةَ أُمِّي فَقُلْتُ اخْرُجْ إِلَيَّ فَقَدْ عَلِمْتُ أَيْنَ أَنْتَ فَخَرَجَ فَقُلْتُ مَا حَمَلَكَ عَلَى أَنِ اخْتَبَأْتَ مِنِّي قَالَ أَنَا وَاللّٰهِ أُحَدِّثُكَ ثُمَّ لَا أَكْذِبُكَ خَشِيتُ وَاللّٰهِ أَنْ أُحَدِّثَكَ فَأَكْذِبَكَ وَأَنْ أَعِدَكَ فَأُخْلِفَكَ وَكُنْتُ صَاحِبَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُنْتُ

حديث نه د اولياؤ كرامت ثابتيږي. او دا هم چه د ضرورت او اصلاح په وخت دروغ ونيل صحيح دي)

باب: دابو اليَسر د قصے بيان او د جابر ؓ اوږد حديث

د عباده بن وليد بن عباده بن صامت نه روايت دے وائي چه زۀ او خما پلار ردواړه رااووتو د علم حاصلولو دپاره د انصارو په قبيله كښې د هغوي د مرګ نه مخكښې (يعنى د انصارو نه د صحابؤ د حديثو د اوريدو دپاره) نو د ټول ونه مخكښې مونږ د رسول الله ﷺ د يو صحابي ابو اليسر سره ميلاؤ شو. د هغوي سره د هغوي يو غلام هم وو چه د كتابونو (خطونو) يو ګيډے ئے راخستے وو. د ابواليسر په بدن باندے يو څادر وو او يوه معافرى كپړه د هغۀ د غلام هم يو څادر او يوه معافرى كپړه وه (يعنى مالك او غلام دواړو يو شان جامے اغوستے وے)، ما هغوي ته اووے اے كاكاجي ستا په مخ باندے خو د خفګان نخښے معلوميږي هغۀ اووے آو خما قرضه راغلے وه په فلاني باندے چه د بني حرام په قبيله كښې د فلاني خوئے دے زۀ د هغۀ د كور والاؤ خواله لاړم او سلام مے اوكړو. او تپوس مے اوكړو چه هغه سرے چرته دے؟ دهغۀ يو خوئ چه خوانئ ته نږدے وو بهر رااووتو. ما د هغۀ نه تپوس اوكړو ستا پلار چرته دے. هغۀ اووے ستا د آواز اوريدو سره خما د مور په چپر كټ كښې ننوتو ما بيا آواز وركړو او ورته مے اووے اے فلانيه بهر رااوخه زۀ خبر يم چه تۀ چرته ئے دے په اوريدو هغه بهر رااووتو ما اووے تۀ خما نه پټ ولے شوے هغۀ اووے په الله قسم دے زۀ به تاسو ته دروغ خبره اوكړم يا ستا سره وعده لوكړم او خلاف ئے اوكړم او تۀ د

وَاللهِ مُعْسِرًا قَالَ قُلْتُ اَللهِ قَالَ اللهِ قُلْتُ آللهِ قَالَ اللهِ قُلْتُ آللهِ قَالَ اللهِ قَالَ فَأَتَى بِصَحِيفَتِهِ فَمَحَاهَا بِيَدِهِ فَقَالَ إِنْ وَجَدْتَ قَضَاءً فَاقْضِنِي وَإِلاَّ أَنْتَ فِي حِلٍّ فَأَشْهَدُ بَصَرُ عَيْنَيَّ هَاتَيْنِ وَوَضَعَ إِصْبَعَيْهِ عَلَى عَيْنَيْهِ وَسَمْعُ أُذُنَيَّ هَاتَيْنِ وَوَعَاهُ قَلْبِي هَذَا وَأَشَارَ إِلَى مَنَاطِ قَلْبِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ عَنْهُ أَظَلَّهُ اللهُ فِي ظِلِّهِ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ أَنَا يَا عَمِّ لَوْ أَنَّكَ أَخَذْتَ بُرْدَةَ غُلَامِكَ وَأَعْطَيْتَهُ مَعَافِرِيَّكَ وَأَخَذْتَ مَعَافِرِيَّهُ وَأَعْطَيْتَهُ بُرْدَتَكَ فَكَانَتْ عَلَيْكَ حُلَّةٌ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ فَمَسَحَ رَأْسِي وَقَالَ اللَّهُمَّ بَارِكْ فِيهِ يَا ابْنَ أَخِي بَصَرُ عَيْنَيَّ هَاتَيْنِ وَسَمْعُ أُذُنَيَّ هَاتَيْنِ وَوَعَاهُ قَلْبِي هَذَا وَأَشَارَ إِلَى مَنَاطِ قَلْبِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ أَطْعِمُوهُمْ مِمَّا تَأْكُلُونَ وَأَلْبِسُوهُمْ مِمَّا تَلْبَسُونَ وَكَانَ أَنْ أَعْطَيْتُهُ مِنْ مَتَاعِ الدُّنْيَا أَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ حَسَنَاتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ مَضَيْنَا حَتَّى أَتَيْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ فِي مَسْجِدِهِ وَهُوَ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُشْتَمِلًا بِهِ فَتَخَطَّيْتُ الْقَوْمَ حَتَّى جَلَسْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ فَقُلْتُ يَرْحَمُكَ

رسول الله ﷺ صحابي ئې. او زۀ قسم په خدائے دے چه محتاج یم ما اووے رښتیا په الله قسم دے چه تۀ محتاج ئې هغۀ اووے په الله قسم دے. ما اووے په الله قسم دے. هغۀ اووے په الله قسم دے. ما اووے په الله قسم دے.هغۀ اووے په الله قسم دے. بیا د هغۀ تمسك راؤړے شو. ابوالیسر هغے لره پخپل لاس سره وران کړو او اوئې وئیل کچرے تا ته روپئ راشی نو ادا ئې کړه ورنه تۀ آزاد ئې. تۀ خما د دواړو سترګو نظر اولیدے. او ابوالیسر خپلے دواړه ګوتے په خپلو سترګو باندے کیښودے او ما په دے دواړو غوږونو سره واوریدل او زړۀ مے یا د اوساتل. او ابوالیسر اشاره اوکړه د خپل زړۀ د رګ په طرف د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئې وو څوك چه یو تنګدست له مهلت ورکړی یائې معاف کړی الله تعالی به هغه په خپل سُوری کښې اوساتی. عبادهؓ وائی چه ما هغوی ته اووے اے کاکاجی کچرے تۀ دے خپل غلام څادر واخلے او خپله معافی دۀ ته ورکړے نو ستا سره به هم یوه جوړه پوره شی او دۀ سره به هم یوه جوړه پوره شی ابو الیسر خما په سر باندے لاس راښکودۀ او اوئې وئیل یا الله برکت ورکړه دے هلك لره. اے خما وراره ما په دې خپلو دواړو سترګو لیدلی دی او غوږونو مے اوریدلی دی او زړۀ مے یاد ساتلی دی او اشاره ئې اوکړه د خپل زړۀ د رګ په طرف د رسول الله ﷺ نه چه هغوی فرمائیلی وو. په وینځه او غلام خوروئ هغه څۀ چه تاسو ئې خورئ او اغوستوئ ورته هغه څۀ چه تاسو ئې اغوندئ پس کچرے زۀ دۀ ته ددنیا سامان ورکړم نو هغه آسان دے خما په نزد د هغه څۀ نه چه د قیامت په ورځ خمانه نیکئ واخلی. عباده وائی بیا مونږ روان شو. تردے پورے چه د جابر بن عبداللهؓ خواته

اللهُ أَتُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ وَرِدَاؤُكَ إِلَى جَنْبِكَ قَالَ فَقَالَ بِيَدِهِ فِي صَدْرِي هَكَذَا وَفَرَّقَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ وَقَوَّسَهَا أَرَدْتُ أَنْ يَدْخُلَ عَلَيَّ الْأَحْمَقُ مِثْلُكَ فَيَرَانِي كَيْفَ أَصْنَعُ فَيَصْنَعُ مِثْلَهُ أَتَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسْجِدِنَا هَذَا وَفِي يَدِهِ عُرْجُونُ ابْنِ طَابٍ فَرَأَى فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ نُخَامَةً فَحَكَّهَا بِالْعُرْجُونِ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا فَقَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يُعْرِضَ اللهُ عَنْهُ قَالَ فَخَشَعْنَا ثُمَّ قَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يُعْرِضَ اللهُ عَنْهُ قَالَ فَخَشَعْنَا ثُمَّ قَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يُعْرِضَ اللهُ عَنْهُ قُلْنَا لَا أَيُّنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ يُصَلِّي فَإِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قِبَلَ وَجْهِهِ فَلَا يَبْصُقَنَّ قِبَلَ وَجْهِهِ وَلَا عَنْ يَمِينِهِ وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ تَحْتَ رِجْلِهِ الْيُسْرَى فَإِنْ عَجِلَتْ بِهِ بَادِرَةٌ فَلْيَقُلْ بِثَوْبِهِ هَكَذَا ثُمَّ طَوَى ثَوْبَهُ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ فَقَالَ أَرُونِي عَبِيرًا فَقَامَ فَتًى مِنَ الْحَيِّ يَشْتَدُّ إِلَى أَهْلِهِ فَجَاءَ بِخَلُوقٍ فِي رَاحَتِهِ فَأَخَذَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَهُ عَلَى رَأْسِ الْعُرْجُونِ ثُمَّ لَطَخَ بِهِ عَلَى أَثَرِ النُّخَامَةِ فَقَالَ جَابِرٌ فَمِنْ هُنَاكَ جَعَلْتُمُ الْخَلُوقَ فِي مَسَاجِدِكُمْ سِرْنَا مَعَ

اورسیدو هغهٔ په خپل جماعت کښ په یوه کپړه کښ پټ مونځ کولو زهٔ په خلقو باندے واوریدم تردے چه د هغوی او د قبلے په مینځ کښ کیناستم. ما اووے الله دِ پتا رحم اوکړی ولے تهٔ په کپړه کښ مونځ ادا کوے. او خپل څادر د ډډے ته ایخودے دے. هغوی په خپل لاس سره څما په سینه باندے په دے شان اشاره اوکړه ګوتے ئے پرانستے او د لیندے پشان ئے کږے او اوئے وئیل ما دا غوښتل چه ستا په شان یو کم عقل څما خواله راشی او ما ته اوګوری څنګه چه زهٔ کوم او دغه شان اوکړی. رسول الله ﷺ زمونږ دے جماعت ته راغے او د هغهٔ په لاس کښ د ابن طاب یوه څانګه وه (دا یوه کهجوره ده) حضرت په جماعت کښ د قبلے په طرف بلغم اولیدهٔ (چا توکلی وو) حضرت هغے لره په لرګی سره اوګرول او بیا زمونږ په طرف متوجه شو او اوئے فرمائیل. ستاسو نه څوك دا خبره غواړی چه الله پاك د هغهٔ نه مخ واړوی. مونږ ددے په اوریدو سره اوېریدو. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل ستاسو نه څوك دا غواړی چه الله د هغهٔ د طرفنه مخ واړوی. مونږ ددے په اوریدو اوېریدو. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل ستاسو نه څوك دا غواړی چه الله دِ د هغهٔ د طرفنه مخ واړوی. مونږ اووے هیڅوك دا نهٔ غواړی یا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل هر کله چه څوك ستاسونه اودرېږی په مانځهٔ باندے نو الله د هغهٔ مخے ته دے (نووی وائی یعنی طرف کوم ته چه الله عظمت ورکړے دے یا کعبه) نو خپلے مخے ته دِ نهٔ توکی او نهٔ ښی طرفته بلکه ګس طرفته د خپلے ګسے خپے لاندے او کچرے بلغم زر ویستل غواړی نو په خپله کپړه کښ دِ توکی په دے شان چه کپړه د لاندے باندے راغونډه کړی. ددے نه پس ئے اوفرمائیل.

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ بَطْنِ بُوَاطٍ وَهُوَ يَطْلُبُ الْمَجْدِيَّ بْنَ عَمْرٍو الْجُهَنِيَّ وَكَانَ النَّاضِحُ يَعْقُبُهُ مِنَّا الْخَمْسَةُ وَالسِّتَّةُ وَالسَّبْعَةُ فَدَارَتْ عُقْبَةُ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ عَلَى نَاضِحٍ لَهُ فَأَنَاخَهُ فَرَكِبَهُ ثُمَّ بَعَثَهُ فَتَلَدَّنَ عَلَيْهِ بَعْضَ التَّلَدُّنِ فَقَالَ لَهُ شَأْ لَعَنَكَ اللهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا اللَّاعِنُ بَعِيرَهُ قَالَ أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ انْزِلْ عَنْهُ فَلَا تَصْحَبْنَا بِمَلْعُوْنٍ لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَمْوَالِكُمْ لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللهِ سَاعَةً يُسْأَلُ فِيهَا عَطَاءٌ فَيَسْتَجِيبُ لَكُمْ سِرْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كَانَتْ عُشَيْشِيَةٌ وَدَنَوْنَا مَاءً مِنْ مِيَاهِ الْعَرَبِ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَجُلٌ يَتَقَدَّمُنَا فَيَمْدُرُ الْحَوْضَ فَيَشْرَبُ وَيَسْقِينَا قَالَ جَابِرٌ فَقُمْتُ فَقُلْتُ هٰذَا رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ رَجُلٍ مَعَ جَابِرٍ فَقَامَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ فَانْطَلَقْنَا إِلَى الْبِئْرِ فَنَزَعْنَا فِي الْحَوْضِ سَجْلًا أَوْ سَجْلَيْنِ ثُمَّ مَدَرْنَاهُ ثُمَّ نَزَعْنَا فِيهِ حَتَّى أَفْهَقْنَاهُ فَكَانَ

ماله خوشبوئی راوړی یو خوان زمونږ د ډلے نه منډے کړے خپل کورته لاړو او په خپل ورغوی کښې نے خوشبوئی راوړه. حضرت ﷺ هغه خوشبوئی د لرگی په څوکه اولړوله او چرته چه د هغهٔ بلغم ننبه په جماعت باندے وه په هغے ئے هغه خوشبو اولگوله. جابرؓ وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره لاړو د بطن بواط په جنگ کښې (دا یو غر دے د جهینه د غرونو نه) او حضرت ﷺ د مجدی بن عمرو جهنی په لټون کښې وو (چه دا یو کافر وو) او زمونږ دا حال وو چه د پنځهٔ او شپږو یا د اووهٔ کسانو دپاره یو اوبښ وو چه په هغے به په نمبر نمبر سوریدو.نو د یو انصاری د سوریدو نمبر راغے هغه اوبښ کینښنولو او ورته اوختو بیائے هغه پاڅه وو نو هغه لږ حصار شو هغه انصاری اوے شاء (دا کلمه ده د اوبښ د شړلو) د الله لعنت دِ وی پتا باندے رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا څوک دے چه لعنت وائی په خپل اوبښ باندے. هغه انصاری اووے زهٔ یم یا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل دد ے اوبښ نه کوز شه. او زمونږ سره به هغه نهٔ وی چه په هغے باندے لعنت کړے شوے وی. خیرے مهٔ کوئ د خپلو خانونو دپاره او خیرے مهٔ کوئ د خپل اولاد دپاره او خیرے مهٔ غواړئ د خپلو مالونو دپاره. داسے نهٔ وی چه دا خیرے په هغه ساعت کښې راشی چه په هغه وخت کښې د الله تعالی نه څهٔ غواړے او الله ئے قبلوی. (نو ستاسو خیرے به هم قبولے شی او په تاسو به افت راشی) جابرؓ وائی مونږ د رسول الله ﷺ سره روان شو هر کله چه مابنام شو او د عربو اوبو ته نږدے شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوک به زمونږ نه مخکښې لاړ شی او حوض به صحیح کړی چه پخپله هم اوڅښی او په مونږ هم اوڅکوی جابرؓ وائی زهٔ پاڅیدم لو

أَوَّلَ طَالِعٍ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتَأْذَنَانِ قُلْنَا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ فَأَشْرَعَ نَاقَتَهُ فَشَرِبَتْ شَنَقَ لَهَا فَشَجَتْ فَبَالَتْ ثُمَّ عَدَلَ بِهَا فَأَنَاخَهَا ثُمَّ جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْحَوْضِ فَتَوَضَّأَ مِنْهُ ثُمَّ قُمْتُ فَتَوَضَّأْتُ مِنْ مُتَوَضَّإِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَهَبَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ يَقْضِي حَاجَتَهُ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّيَ وَكَانَتْ عَلَيَّ بُرْدَةٌ ذَهَبْتُ أَنْ أُخَالِفَ بَيْنَ طَرَفَيْهَا فَلَمْ تَبْلُغْ لِي وَكَانَتْ لَهَا ذَبَاذِبُ فَنَكَّسْتُهَا ثُمَّ خَالَفْتُ بَيْنَ طَرَفَيْهَا ثُمَّ تَوَاقَصْتُ عَلَيْهَا ثُمَّ جِئْتُ حَتَّى قُمْتُ عَنْ يَسَارِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَدَارَنِي حَتَّى أَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ ثُمَّ جَاءَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ جَاءَ فَقَامَ عَنْ يَسَارِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْنَا جَمِيعًا فَدَفَعَنَا حَتَّى أَقَامَنَا خَلْفَهُ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمُقُنِي وَأَنَا لَا أَشْعُرُ ثُمَّ فَطِنْتُ بِهِ فَقَالَ هٰكَذَا بِيَدِهِ يَعْنِي شُدَّ وَسَطَكَ فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

عرض مے اوکړو چه دا سړے به مخکښې لاړ شي يا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائيل بل به د جابر سره ځوك لاړ شي نو جابر بن صخر پاسيدۀ. او مونږ دواړه د كوهي په طرف لاړو او په كوهي مو يوه يا دوه بوكے واچولے. بيا مو په هغے باندے خاوړه اولګوله ددے نه مو په هغے کښې اوبۀ ډکول شروع کړل تردے پورے چه د آخري حد پورے مو ډك كړو. د ټولو نه مخکښې مونږ ته رسول الله ﷺ ښکاره شو. حضرت ﷺ اوفرمائيل تاسو دواړه اجازت راکوئ (ما ته د اوبو څښلو په خپل خاروي باندے) مونږ عرض اوکړو آو يا رسول الله. حضرت ﷺ خپله اوښه پريخوده. هغے اوبۀ اوڅښلے. بيا حضرت ﷺ د هغے واګے اونيوے يعنی راښکودے هغے اوبۀ څښل بس کړل او متيازے ئے اوکړے. بيا حضرت ﷺ هغه ځان له جدا كينښنوله. ددے نه پس رسول الله ﷺ د حوض په طرف راغے او په هغے کښې ئے اودس اوكړو. زۀ هم پاځيدم او كوم ځائے کښې چه حضرتؑ اودس کړے وو هلته ما هم اودس اوکړو. او جبار بن صخر د حاجت دپاره لاړۀ. او رسول الله ﷺ د مونځ كولو دپاره اودريدو. او ځما په بدن باندے يو ځادر وو. ما د هغے دواړه غاړے الټه کړے نو هغه وړوکے شو. په هغے کښې زونډی لګيدلی وو. آخر ما هغے له واړه وو او دواړه غاړے مے ورله الټه کړے او بيا مے اوتړو د خپل څټ سره او ددے نه پس راغلم او د رسول الله ﷺ نه ګس طرفته اودريدم. حضرت ﷺ ځما لاس اونيوۀ او تاؤ ئے کړم ښی طرفته ئے اودرولم. بيا جبار بن صخر راغے هغوی هم اودس اوکړو او د رسول الله ﷺ نه ګس طرفته اوريدۀ. حضرت زمونږ دواړو لاس اونيول او روستو كولو ئے تردے پورے چه د ځان نه ئے رستو اودرولو. (

يَا جَابِرُ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِذَا
كَانَ وَاسِعًا فَخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ وَإِذَا كَانَ
ضَيِّقًا فَاشْدُدْهُ عَلَى حَقْوِكَ سِرْنَا مَعَ رَسُولِ
اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ قُوتُ كُلِّ
رَجُلٍ مِنَّا فِي كُلِّ يَوْمٍ تَمْرَةً فَكَانَ يَمَصُّهَا ثُمَّ
يَصُرُّهَا فِي ثَوْبِهِ وَكُنَّا نَخْتَبِطُ بِقِسِيِّنَا وَنَأْكُلُ
حَتَّى قَرِحَتْ أَشْدَاقُنَا فَأُقْسِمُ أُخْطِئَهَا
رَجُلٌ مِنَّا يَوْمًا فَانْطَلَقْنَا بِهِ نَنْعَشُهُ فَشَهِدْنَا
أَنَّهُ لَمْ يُعْطَهَا فَأُعْطِيَهَا فَقَامَ فَأَخَذَهَا سِرْنَا
مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى
نَزَلْنَا وَادِيًا أَفْيَحَ فَذَهَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِي حَاجَتَهُ فَاتَّبَعْتُهُ
بِإِدَاوَةٍ مِنْ مَاءٍ فَنَظَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَرَ شَيْئًا يَسْتَتِرُ بِهِ فَإِذَا
شَجَرَتَانِ بِشَاطِئِ الْوَادِي فَانْطَلَقَ رَسُولُ
اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى إِحْدَاهُمَا
فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا فَقَالَ انْقَادِي
عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَالْبَعِيرِ
الْمَخْشُوشِ الَّذِي يُصَانِعُ قَائِدَهُ حَتَّى أَتَى
الشَّجَرَةَ الْأُخْرَى فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْ
أَغْصَانِهَا فَقَالَ انْقَادِي عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ
فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَذَلِكَ حَتَّى إِذَا كَانَ
بِالْمَنْصَفِ مِمَّا بَيْنَهُمَا لَأَمَ بَيْنَهُمَا يَعْنِي

معلومه شوه چه دومره عمل په مانځۀ کښې صحيح دے، بيا رسول الله ﷺ ما ته په مخه کتل شروع کړل او زۀ خبر نۀ وم. دا دے نه روستو خبر اوشو نو حضرت ﷺ اشاره اوکړه پخپل لاس سره چه خپل لنګ اوتړۀ (دا دے دپاره چه ستر ښکاره نۀ شی) هر کله چه رسول الله ﷺ د مانځۀ نه فارغ شو نو اوئے فرمائيل اے جابره! ما عرض اوکړو حاضر يم يا رسول الله! هر کله چه څادر فراخه وی نو د هغے دواړه څنډې الټه کړه. او چه تنګ وی نو هغه په ملا پورے اوتړه. جابر وائی بيا مونږ د رسول الله ﷺ سره روان وو. او زمونږ نه هر يو سړی ته به د خوراك دپاره هره ورځ يوه کهجوره ميلاويده هغه به مو راښکه او بيا به مو په غاښونو اوژوئيله او مونږ به په خپلو ليندو سره د اونو نه پاڼړے راڅنډلے او هغه به مو خوړے تردے پورے چه زمونږه مرئ زخمی شوی (د پاڼړو د خوړلو خوړلو د ګرمئ او وخشکئ نه) بيا د کهجورو د ويشلو والا زمونږ نه يو سړے هير کړو. مونږ هغه سړے واخستو او لاړو او ګواهی مو ورکړه چه دۀ ته کهجوره نۀ ده ميلاؤ شوے. هغه ويشونکی هغۀ ته کهجوره ورکړه هغه اودريدو او کهجوره ئے واخسته بيا مونږ لاړو د رسول الله ﷺ سره تردے پورے چه په يو فراخه وادئ کښې کوز شو. رسول الله ﷺ د حاجت دپاره تشريف يوړو زۀ پسے شاته روان وم د اوبو لوټه راسره وه. رسول الله ﷺ څۀ د پردے ځائے او نۀ موندو چه اوئے کتل نو اونے د وادئ په غاړه لګيدلے وے. حضرت د يوے اونے خواله لاړو او د هغے څانګے ئے اونيوے او اوئے فرمائيل. په حکم د الله خما تابعداره شه هغه د حضرت تابعداره شوه د هغه اوښ په شان چه د هغۀ په پوزه کښې لرګے ورکړلے شی نو تابعدار شی د خپل نيولو والا. تردے پورے چه

جَمَعَهُمَا فَقَالَ الْتَئِمَا عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ
فَالْتَأَمَتَا قَالَ جَابِرٌ فَخَرَجْتُ أُحْضِرُ مَخَافَةَ
أَنْ يُحِسَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
بِقُرْبِي فَيَبْتَعِدَ وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادٍ فَيَتَبَعَّدَ
فَجَلَسْتُ أُحَدِّثُ نَفْسِي فَحَانَتْ مِنِّي
لَفْتَةٌ فَإِذَا أَنَا بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ مُقْبِلًا وَإِذَا الشَّجَرَتَانِ قَدِ افْتَرَقَتَا
فَقَامَتْ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا عَلَى سَاقٍ
فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَقَفَ وَقْفَةً فَقَالَ بِرَأْسِهِ هَكَذَا وَأَشَارَ أَبُو
إِسْمَعِيلَ بِرَأْسِهِ يَمِينًا وَشِمَالًا ثُمَّ أَقْبَلَ
فَلَمَّا انْتَهَى إِلَيَّ قَالَ يَا جَابِرُ هَلْ رَأَيْتَ
مَقَامِي قُلْتُ نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَانْطَلِقْ
إِلَى الشَّجَرَتَيْنِ فَاقْطَعْ مِنْ كُلِّ وَاحِدَةٍ
مِنْهُمَا غُصْنًا فَأَقْبِلْ بِهِمَا حَتَّى إِذَا قُمْتَ
مَقَامِي فَأَرْسِلْ غُصْنًا عَنْ يَمِينِكَ وَغُصْنًا
عَنْ يَسَارِكَ قَالَ جَابِرٌ فَقُمْتُ فَأَخَذْتُ
حَجَرًا فَكَسَرْتُهُ وَحَسَرْتُهُ فَانْذَلَقَ لِي فَأَتَيْتُ
الشَّجَرَتَيْنِ فَقَطَعْتُ مِنْ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا
غُصْنًا ثُمَّ أَقْبَلْتُ أَجُرُّهُمَا حَتَّى قُمْتُ
مَقَامَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
أَرْسَلْتُ غُصْنًا عَنْ يَمِينِي وَغُصْنًا عَنْ
يَسَارِي ثُمَّ لَحِقْتُهُ فَقُلْتُ قَدْ فَعَلْتُ يَا

حضرت ﷺ د دویمې اونې خواله راغې او د هغې څانګه ئې اونیوه او ورته ئې اوفرمائیل څما تابعداره شه د الله په حکم سره. هغه هم د حضرت ﷺ سره شوه په دې شان تردې پورې چه حضرت ﷺ د هغه اونو په مینځ ته اورسیدو نو هغه ئې یو ځائې کینبودې او اوئې فرمائیل دواړه د الله په حکم څما مخې ته یو ځائې شئ. هغه دواړه اونې یو ځائې شوې. جابر وائي زهٔ په منډه رااووتم ددې یرې نه چه چرته رسول الله ﷺ ما نزدې اوینې او لرې تشریف یوسي. زهٔ کیناستم په خپل زړهٔ کښې مې خبرې کولې. ناڅاپه چه مې اوکتل نو رسول الله ﷺ د مخې نه تشریف راوړو. او هغه دواړه اونې جدا شوې او په خپل خپل ځائې اودریدې. ما اولیدل چه حضرت ﷺ لږ ساعت اودریدو او په سَر سره ئې اشاره اوکړه دغه شان ښي اوګس طرفته او بیا مخې ته راغې هر کله چه څما خواله راغې نو اوئې فرمائیل اے جابره! زهٔ چه چرته ولاړ وم تا اولیدم. جابر اووې آو یا رسول الله ﷺ. حضرت ﷺ اوفرمائیل ته د هغه دواړو اونو خواله لاړ شه او د هرې یوې نه یوه څانګه کټ کړه او راوړه. هر کله چه هغه ځائې ته اورسې چرته چه زهٔ ولاړ وم نو یوه څانګه به د خانه ښي طرفته اوغورځوې او بله به ګس طرفته. جابر وائي زهٔ پاڅیدم او یوه ګټه مې راواخسته او هغه مې ماته کړه او تیره مې کړه. هغه تیره شوه. بیا د هغه دواړو اونو خواله راغلم او دهرې یوې نه مې یوه یوه څانګه کټ کړه. بیا مې هغه څانګې راښکلې او راغلم هغه ځائې ته چرته چه رسول الله ﷺ اودریدلې وو نو یوه څانګه مې ښي طرفته اوغورځوله او بله ګس طرفته بیا لاړم د حضرت ﷺ سره میلاؤ شوم او عرض مې اوکړو څهٔ چه تاسو فرمائیلي وو هغه خو ما اوکړل لیکن ددې وجه څهٔ ده؟

رَسُوْلَ اللهِ فَعَمَّ ذَاكَ قَالَ إِنِّي مَرَرْتُ بِقَبْرَيْنِ يُعَذَّبَانِ فَأَحْبَبْتُ بِشَفَاعَتِي أَنْ يُرَفَّهَ عَنْهُمَا مَا دَامَ الْغُصْنَانِ رَطْبَيْنِ قَالَ فَأَتَيْنَا الْعَسْكَرَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا جَابِرُ نَادِ بِوَضُوْءٍ فَقُلْتُ أَلَا وَضُوْءَ أَلَا وَضُوْءَ أَلَا وَضُوْءَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا وَجَدْتُ فِي الرَّكْبِ مِنْ قَطْرَةٍ وَكَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يُبَرِّدُ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَاءَ فِي أَشْجَابٍ لَهُ عَلَى حِمَارَةٍ مِنْ جَرِيْدٍ قَالَ فَقَالَ لِيَ انْطَلِقْ إِلَى فُلَانِ ابْنِ فُلَانٍ الْأَنْصَارِيِّ فَانْظُرْ هَلْ فِي أَشْجَابِهِ مِنْ شَيْءٍ قَالَ فَانْطَلَقْتُ إِلَيْهِ فَنَظَرْتُ فِيْهَا فَلَمْ أَجِدْ فِيْهَا إِلَّا قَطْرَةً فِي عَزْلَاءِ شَجْبٍ مِنْهَا لَوْ أَنِّي أُفْرِغُهُ لَشَرِبَهُ يَابِسُهُ فَأَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي لَمْ أَجِدْ فِيْهَا إِلَّا قَطْرَةً فِي عَزْلَاءِ شَجْبٍ مِنْهَا لَوْ أَنِّي أُفْرِغُهُ لَشَرِبَهُ يَابِسُهُ قَالَ اذْهَبْ فَأْتِنِي بِهِ فَأَتَيْتُهُ بِهِ فَأَخَذَهُ بِيَدِهِ فَجَعَلَ يَتَكَلَّمُ بِشَيْءٍ لَا أَدْرِي مَا هُوَ وَيَغْمِزُهُ بِيَدَيْهِ ثُمَّ أَعْطَانِيْهِ فَقَالَ يَا جَابِرُ نَادِ بِجَفْنَةٍ فَقُلْتُ يَا جَفْنَةَ الرَّكْبِ فَأُتِيْتُ بِهَا تُحْمَلُ فَوَضَعْتُهَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

حضرت اوفرمائیل ما اولیدل چه هلته دوه قبرونه دی او په هغې قبرونو والاؤ باندے عذاب دے نو ما اوغوښته چه د دوی سفارش اوکړم چه کیدے شی ددوی په عذاب کښې کمے راشی د کومے پورے چه دا څانگې شنے وی جابر وائی بیا مونږ لښکر ته راغلو رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے جابره! خلقو ته آواز اوکړه چه اودس اوکړی. ما آواز اوکړو چه اودس اوکړئ ، اودس اوکړئ، اودس اوکړئ. ما عرض اوکړو چه یا رسول الله! په قافله کښې د ابو یو قطره هم نشته ا ویو انصاری سړے وو چه هغه به د رسول الله ﷺ دپاره اوبۀ په یو زوړ مشك کښې ساتلے چه به د لرگی په ښاخونو زوړند وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل د هغه انصاری سړی خواله لاړ شه اوگوره چه د هغۀ په مشك کښې اوبۀ شته. زۀ چه لاړم چه اومے کتل نو په مشك کښې اوبۀ نۀ وے. د هغې په خلۀ کښې صرف یوه قطره وه. کۀ هغه ترے رااړوم نو وچ مشك به هغه هم اوڅښی. زۀ د رسول الله ﷺ خواله راغلم او عرض مې اوکړو چه یا رسول الله په هغه مشك کښې خو اوبۀ نشته د هغې په خلۀ کښې صرف یوه قطره ده کۀ څۀ هغه رااړوم نو دا وچ مشك به هغه هم اوڅښی. حضرت ﷺ اوفرمائیل لاړ شه او هغه مشك ماله راوړه. ما هغه مشك راوړو راغلم. حضرت هغه په خپل لاس مبارك کښې واخستو او په ژبه سره ئے څۀ ویل شروع کړل چه په هغې زۀ پوهه نۀ شوم. او مشك به ئے په خپل لاس مبارك سره دباوولو. بوائے هغه مشك ماته حواله کړو او راته ئے اوفرمائیل اے جابره! آواز وکړه چه د قافلے هغه منگے راوړئ (یعنی غټ لوښے د اوبو) ما آواز اوکړو نو هغه راوړے شو خلقو راوړو ما د حضرت ﷺ مخے ته هغه کیښودۀ. رسول الله ﷺ خپل لاس په هغه منگی اووهو په دی شان چه

وَسَلَّمَ بِيَدِهِ فِي الْجَفْنَةِ هٰكَذَا فَبَسَطَهَا وَفَرَّقَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ ثُمَّ وَضَعَهَا فِي قَعْرِ الْجَفْنَةِ وَقَالَ خُذْ يَا جَابِرُ فَصُبَّ عَلَيَّ وَقُلْ بِاسْمِ اللهِ فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ وَقُلْتُ بِاسْمِ اللهِ فَرَأَيْتُ الْمَاءَ يَفُورُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ فَارَتِ الْجَفْنَةُ وَدَارَتْ حَتَّى امْتَلَأَتْ فَقَالَ يَا جَابِرُ نَادِ مَنْ كَانَ لَهُ حَاجَةٌ بِمَاءٍ قَالَ فَأَتَى النَّاسُ فَاسْتَقَوْا حَتَّى رَوُوا قَالَ فَقُلْتُ هَلْ بَقِيَ أَحَدٌ لَهُ حَاجَةٌ فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ مِنَ الْجَفْنَةِ وَهِيَ مَلْأَى وَشَكَا النَّاسُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُوعَ فَقَالَ عَسَى اللهُ أَنْ يُطْعِمَكُمْ فَأَتَيْنَا سِيفَ الْبَحْرِ فَزَخَرَ الْبَحْرُ زَخْرَةً فَأَلْقَى دَابَّةً فَأَوْرَيْنَا عَلَى شِقِّهَا النَّارَ فَاطَّبَخْنَا وَاشْتَوَيْنَا وَأَكَلْنَا حَتَّى شَبِعْنَا قَالَ جَابِرٌ فَدَخَلْتُ أَنَا وَفُلَانٌ وَفُلَانٌ حَتَّى عَدَّ خَمْسَةً فِي حِجَاجِ عَيْنِهَا مَا يَرَانَا أَحَدٌ حَتَّى خَرَجْنَا فَأَخَذْنَا ضِلَعًا مِنْ أَضْلَاعِهِ فَقَوَّسْنَاهُ ثُمَّ دَعَوْنَا بِأَعْظَمِ رَجُلٍ فِي الرَّكْبِ وَأَعْظَمِ جَمَلٍ فِي الرَّكْبِ وَأَعْظَمِ كِفْلٍ فِي

گوتې مبارکې ئې خورې کړې وې. بیا ئې خپل لاس مبارك د هغې په وېخ کښې کېښودو. او ورته ئې فرمائیل اې جابره مشك واخله او خما په دې لاس ئې راواړوه او بسم الله اووایه. ما بسم الله اووې او اوبۀ مې واچولې. بیا چه ما کتل نو د حضرت ﷺ د گوتو د مینځ نه اوبو جوش وهل تر دې پورې چه منگې جوش اووهو او چورلیدۀ او ډك شو. حضرت ﷺ اوفرمائیل اې جابره! آواز اوکړه چاته چه د اوبو حاجت وی هغه د راشي. جابر وائي خلق راغې او اوبۀ ئې واخستې تر دې پورې چه ټول ماړۀ شول. ما اووې څوك داسې هم پاتې دې چه هغوی ته د اوبو حاجت وی. بیا حضرت ﷺ خپل لاس مبارك د منگې نه اوچت کړو او هغه د اوبو نه ډك شوې وو. بیا خلقو د لوږې نه شکایت اوکړو حضرت ﷺ اوفرمائیل نژدې ده چه الله به په تاسو اوخوره وی. بیا مونږ د دریاب غاړې له راغلو (یعنی د سمندر) او دریاب چپه اووهله او یو ځناور ئې بهر رااوغورځوو مونږ د هغې په غاړه اُور بل کړو او د هغه ځناور غوښه مو پخه کړه او ورته کړه او په مړه خیټه مو اوخوړه. جابرؓ وائي بیا زۀ او فلانې فلانې پنځۀ سړی د هغه د سترگې په ډوغل کښې ننوتو نو مونږ هیچا نۀ لیدو تر دې پورې چه مونږ بهر رااووتو (دومره لوئې ځناور وو) بیا مونږ د هغۀ د پختو نه یوه پختۍ واخسته او د قافلې نه مو یو غټ سړې د تولو نه په غټ اوبن او د هغۀ په غټ زین سور رااوغوښتو او د هغه پختۍ لاندې لاړو او خپل سر ئې ښکته نه کړو. (دومره دنگه د هغه ځناور پختۍ وه)[1]

---

[1] په دې حدیث د رسول الله ﷺ څو معجزې ذکر کړې شوې دی. د اونو تابع کېدل د حضرت ﷺ سره تلل، د قبر والو عذاب معلومول د ابووب زیاتول دد دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د دریاب ځناور خوړل صحیح دی.

الرَّكْبِ فَدَخَلَ تَحْتَهُ مَا يُطَأْطِئُ رَأْسَهُ

بَابٌ فِي حَدِيثِ الْهِجْرَةِ

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ يَقُولُ جَاءَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ إِلَى أَبِي فِي مَنْزِلِهِ فَاشْتَرَى مِنْهُ رَحْلًا فَقَالَ لِعَازِبٍ ابْعَثْ مَعِي ابْنَكَ يَحْمِلْهُ مَعِي إِلَى مَنْزِلِي فَقَالَ لِي أَبِي احْمِلْهُ فَحَمَلْتُهُ وَخَرَجَ أَبِي مَعَهُ يَنْتَقِدُ ثَمَنَهُ فَقَالَ لَهُ أَبِي يَا أَبَا بَكْرٍ حَدِّثْنِي كَيْفَ صَنَعْتُمَا لَيْلَةَ سَرَيْتَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ أَسْرَيْنَا لَيْلَتَنَا كُلَّهَا حَتَّى قَامَ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ وَخَلَا الطَّرِيقُ فَلَا يَمُرُّ فِيهِ أَحَدٌ حَتَّى رُفِعَتْ لَنَا صَخْرَةٌ طَوِيلَةٌ لَهَا ظِلٌّ لَمْ تَأْتِ عَلَيْهِ الشَّمْسُ بَعْدُ فَنَزَلْنَا عِنْدَهَا فَأَتَيْتُ الصَّخْرَةَ فَسَوَّيْتُ بِيَدِي مَكَانًا يَنَامُ فِيهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ظِلِّهَا ثُمَّ بَسَطْتُ عَلَيْهِ فَرْوَةً ثُمَّ قُلْتُ نَمْ يَا رَسُولَ اللهِ وَأَنَا أَنْفُضُ لَكَ مَا حَوْلَكَ فَنَامَ وَخَرَجْتُ أَنْفُضُ مَا حَوْلَهُ فَإِذَا أَنَا بِرَاعِي غَنَمٍ مُقْبِلٍ بِغَنَمِهِ إِلَى الصَّخْرَةِ يُرِيدُ مِنْهَا الَّذِي أَرَدْنَا فَلَقِيتُهُ فَقُلْتُ لِمَنْ أَنْتَ يَا غُلَامُ فَقَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ

باب: د رسول الله ﷺ د هجرت حديث

د براء بن عازب ؓ نه روايت دے وائي چه ابوبكر ؓ خما د پلار (عازب) كورته راغے. او د هغهٔ نه ئے يوه كجاوه واخسته او عازب ته ئے اووے ته خپل خوئ ته اووايه چه دا كجاوه خما سره زمونږ د كوره پورے يوسي. خما پلار ما ته اووے كجاوه اوچته كړه. ما كجاوه اوچته كړه او خما پلار هم د ابوبكر سره راووتهٔ د كجاوے د قيمت د وصولولو دپاره. خما پلار اووے اے ابوبكره بيان كړه ما ته چه تاسو څهٔ اوكړل په هغه شپه په كومه چه د رسول الله ﷺ سره بهر راووتئ (يعنى د مكے نه مدينے ته د هجرت په موقع) ابوبكر اووے آو مونږ توله شپه روان وو تردے پورے چه ورځ شوه او تهيك د غرمے وخت شو. او په لاره باندے څوك روان پاتے نهٔ شو. مونږ په مخكښې يو دنګ كمر اوليدهٔ چه د هغے سورے په زمكه باندے وو او نمر ورته لا نهٔ وو لګيدلے مونږ د هغے په خوا كښې كوز شو او زهٔ د هغے ګټے خواله لاړمه او د هغے په سورى مے د رسول الله ﷺ د آرام دپاره په خپلو لاسونو ځائے برابر كړو. او بيا مے هلته شړئ خوره كړه. او ددے نه پس مے عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ تاسو اوده شئ او زهٔ ستاسو نه چاپيره هر طرفته د دشمن خبر اخلمه (چه زمونږ په لټون كښې خو نهٔ دى راغلي) بيا ما يو شپونكے اوليدهٔ چه د خپلو بزو سره د هغے ګټے په طرف راروان وو او هغه ئے اراده وه څهٔ چه زمونږ وه (يعنى د هغے په سورى ئے آرام كول غوښتل) زهٔ د هغهٔ سره ميلاؤ شوم او تپوس مے ترے اوكړو چه اے هلكه تهٔ د چا غلام ئے. هغهٔ اووے زهٔ د ښار والاؤ نه د يو سړي غلام يم ما اووے ستا په دے

قُلْتُ أَفِي غَنَمِكَ لَبَنٌ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ أَفَتَحْلُبُ لِي قَالَ نَعَمْ فَأَخَذَ شَاةً فَقُلْتُ لَهُ انْفُضِ الضَّرْعَ مِنَ الشَّعَرِ وَالتُّرَابِ وَالْقَذَى قَالَ فَرَأَيْتُ الْبَرَاءَ يَضْرِبُ بِيَدِهِ عَلَى الأُخْرَى يَنْفُضُ فَحَلَبَ لِي فِي قَعْبٍ مَعَهُ كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ قَالَ وَمَعِي إِدَاوَةٌ أَرْتَوِي فِيهَا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَشْرَبَ مِنْهَا وَيَتَوَضَّأَ قَالَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَرِهْتُ أَنْ أُوقِظَهُ مِنْ نَوْمِهِ فَوَافَقْتُهُ اسْتَيْقَظَ فَصَبَبْتُ عَلَى اللَّبَنِ مِنَ الْمَاءِ حَتَّى بَرَدَ أَسْفَلُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ اشْرَبْ مِنْ هَذَا اللَّبَنِ قَالَ فَشَرِبَ حَتَّى رَضِيتُ ثُمَّ قَالَ أَلَمْ يَأْنِ لِلرَّحِيلِ قُلْتُ بَلَى قَالَ فَارْتَحَلْنَا بَعْدَمَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَاتَّبَعَنَا سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ وَنَحْنُ فِي جَلَدٍ مِنَ الأَرْضِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أُتِينَا فَقَالَ لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللهَ مَعَنَا فَدَعَا عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَطَمَتْ فَرَسُهُ إِلَى بَطْنِهَا أُرَى فَقَالَ إِنِّي قَدْ عَلِمْتُ أَنَّكُمَا قَدْ دَعَوْتُمَا عَلَيَّ فَادْعُوَا لِي فَاللهُ لَكُمَا أَنْ أَرُدَّ عَنْكُمَا الطَّلَبَ فَدَعَا اللهَ فَنَجَا فَرَجَعَ لاَ يَلْقَى

بزو كښې پې شته. هغهٔ اووے آو شته. ما اووے ته به پې اولشې مونږ ته هغهٔ اووے آو. بيا هغهٔ يوه بزه رااونيوه ما اووے ددے غولانړه صفا كړه د ويښتو او خاورو خزلو نه چه چرته په پيو كښې دا څيزونه اونهٔ غورځيږي. (راوي وائي) ما براء بن عازب اوليدهٔ چه يو لاس ئے په بل باندے اووهو د پاكولو نه خير هغه هلك پې اولوشل لږ شانے د لرګي په يوه پياله كښې. او ځما سره يوه لوټه وه چه په هغے كښې به مے د رسول الله ﷺ د اودس اوڅښلو دپاره اوبهٔ ساتلے. اوبوبكر وائي بيا زهٔ د رسول الله ﷺ خواله راغلم. او ما ته د هغوی د خوب نه ويخول ښه نهٔ ښكاريدهٔ ليكن ماچه اوكتل نو هغوی پخپله ويخ شوے ناست وو. ما په پيو باندے اوبهٔ واچولے تردے پورے چه هغه يخ شو. بيا ما اووے يا رسول الله ﷺ دا پې اوڅښې. حضرت ﷺ اوڅښل ترد ے پورې چه زهٔ خوشحاله شوم. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل آيا د سفر وخت نهٔ دے راغلے. ما اووے راغلے دے. پس د نمر د زوال نه پس مونږ روان شو. او په مونږ پسے د روستو نه سراقه بن مالك (كافر) راغے او دغه وخت مونږ په سخته زمكه باندے وو. ما اووے يا رسول الله ﷺ مونږه خو كافرانو اوموندو. حضرت ﷺ اوفرمائيل فكر مهٔ كوه الله زمونږ سره دے. بيا رسول الله ﷺ سراقه ته خيرے اوكړے نو د هغهٔ اس د خيټې پورے په زمكه كښې ننوتهٔ (حالانكه هلته زمكه سخته وه. نو هغهٔ اووے زهٔ پوهه يم چه تاسو دواړو ما ته آزار كړے دے اوس ځما د په الله قسم وی چه ستاسو دواړو په لټون كښې څوك راځي زهٔ به ئے واپس كوم خو اوس ځما دپاره اوغواړئ چه الله مے ددے عذاب نه خلاص كړي) حضرت ﷺ د الله نه دعا اوغوښته هغه آزاد شو او واپس لاړهٔ. او په لاره كښې هر يو (

أَحَدًا إِلَّا قَالَ قَدْ كَفَيْتُكُمْ مَا هَاهُنَا فَلَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا رَدَّهُ قَالَ وَوَفَى لَنَا

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ اشْتَرَى أَبُو بَكْرٍ مِنْ أَبِي رَحْلًا بِثَلَاثَةَ عَشَرَ دِرْهَمًا وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ زُهَيْرٍ عَنْ أَبِي إِسْحَقَ وَقَالَ فِي حَدِيثِهِ مِنْ رِوَايَةِ عُثْمَانَ بْنِ عُمَرَ فَلَمَّا دَنَا دَعَا عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاخَ فَرَسُهُ فِي الْأَرْضِ إِلَى بَطْنِهِ وَوَثَبَ عَنْهُ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ قَدْ عَلِمْتُ أَنَّ هَذَا عَمَلُكَ فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يُخَلِّصَنِي مِمَّا أَنَا فِيهِ وَلَكَ عَلَيَّ لَأُعَمِّيَنَّ عَلَى مَنْ وَرَائِي وَهَذِهِ كِنَانَتِي فَخُذْ سَهْمًا مِنْهَا فَإِنَّكَ سَتَمُرُّ عَلَى إِبِلِي وَغِلْمَانِي بِمَكَانِ كَذَا وَكَذَا فَخُذْ مِنْهَا حَاجَتَكَ قَالَ لَا حَاجَةَ لِي فِي إِبِلِكَ فَقَدِمْنَا الْمَدِينَةَ لَيْلًا فَتَنَازَعُوا أَيُّهُمْ يَنْزِلُ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَنْزِلُ عَلَى بَنِي النَّجَّارِ أَخْوَالِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ

كافر) چه به ورسره ميلاويدهٔ نو هغهٔ ته به ئے ونيل دے طرفته ما هر څهٔ كتلى دى. غرض دا چه څوك به ئے ليدهٔ نو هغه به ئے د دغه طرفه واپس كوو. ابوبكر وائى سراقه خپله خبره پوره كړه[1]

د براءؓ نه روايت دے چه ابوبكرؓ خما د پلار نه په ديارلس درهمه يوه كجاوه واخستله او پوره حديث ئے ددے مضمون بيان كړو څنګه چه زهير د ابو اسحاق نه روايت كړے دے. او دهٔ په خپل حديث كښې اووئيل د عثمان بن عمر په روايت سره چه هر كله رسول اللهﷺ هغهٔ ته خيرے اوكړے نو د هغهٔ اس د خيټے پورے په زمكه كښې ښخ شو او هغه د هغهٔ نه راواغورځيدهٔ او اوئے وئيل اے محمد! زهٔ پوهه يم چه دا ستا كار دے ته د الله نه دعا اوغواړه چه هغه ما ته ددے افت نه خلاصے راكړى او زهٔ ستاسو سره دا اقرار كوم چه زهٔ به ستاسو حال پټ ساتم د هغه خلقو نه چه خما نه روستو راځى. او دا خما تركش دے ددے نه يو غشے تاسو واخلئ او تاسو چه لړ لړے لاړ شئ نو خما اوښان او غلام به تاسو ته ميلاؤ شى تاسو ته چه د څهٔ حاجت وى د هغوى نه ئے واخلئ. حضرتﷺ اوفرمائيل ما ته ستا د اوښانو حاجت نشته دے. ابوبكرؓ وائى بيا مونږ د شپے مدينے منورے ته اورسيدو. خلقو جهګړه شروع كړه چه حضرتؐ به د چا سره كوزيږى (يعنى هرے قبيلے دا غوښته چه حضرتﷺ د زمونږ سره كوز شى) حضرت اوفرمائيل زهٔ به د بنى النجار سره كوزيږم. هغه د عبد المطلب د مور د طرفه خلق وو. حضرتﷺ هغوى له

[1] نووىؒ وائى حضرتﷺ چه د دغه هلك د لاس نه پئ اوڅښل حالانكه هغه د دغه پيو مالك نهٔ وو. ددے څلور توجيه دى. يو دا چه د مالك د طرفه به د ميلمنو او مسافرو دپاره د څښلو اجازت وو. دويم دا چه هغه څناور به د چا دوست سرى وو چه د هغهٔ په مال كښې به تصرف كيدے شو. دريم دا چه يا به هغه د حربى مال وو كوم ته چه امان نهٔ دے ميلاؤ او د داسے مال اخستل جائز دى. څلورم دا چه هغوى د لوږے نه بے طاقته وو. اولنى دوه توجيهات ډير بهتر دى.



أَكْرِمُهُمْ بِذٰلِكَ فَصَعِدَ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ فَوْقَ الْبُيُوتِ وَتَفَرَّقَ الْغِلْمَانُ وَالْخَدَمُ فِي الطُّرُقِ يُنَادُونَ يَا مُحَمَّدُ يَا رَسُولَ اللهِ يَا مُحَمَّدُ يَا رَسُولَ اللهِ

عزت ورکړو د هغوی سره په کوزیدو باندے. بیا سړی اوختل او ښځې په کورونو باندے او هلکان او غلامان په لاره کښې جدا جدا شو او په زوره زوره به ئې آواز کولو چه یا محمد یا رسول الله یا محمد یا رسول الله [1].

---

[1]: دا آوازونه کول د هغوی د خوشحالۍ په سبب وو. نووی وائی په دے حدیث کښې یوه خو د حضرت ﷺ ښکاره معجزه ده. دویم فضیلت دے د ابوبکر صدیق. دریم خدمت دے د تابع د متبوع دپاره. څلورم غوره والے دے د لوټے یا مشکیزے د ساتلو په سفر کښې د پاکوالی او ځښلو دپاره. پنځم فضلیت دے په الله تعالی باندے د اعتماد کولو او فضیلت دے د انصارو او فضیلت دے د صله رحمۍ. شپږم غوره والے دے د کوزیدو د خپلوانو په خواه کښې.

كِتَابُ التَّفْسِيرِ

د قرآن شریف د آیتونو تفسیر

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيلَ لِبَنِي إِسْرَائِيلَ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ يُغْفَرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ فَبَدَّلُوا فَدَخَلُوا الْبَابَ يَزْحَفُونَ عَلَى أَسْتَاهِهِمْ وَقَالُوا حَبَّةٌ فِي شَعَرَةٍ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه بنی اسرائیلو ته ونیلی شوی وو تاسو د بیت المقدس په دروازه کښې په رکوع کولو ننوځئ او وایئ حِطَّةٌ یعنی بخښنه غواړئ د ګناهونو نو مونږ به ستاسو ګناهونه اوبخښو. لیکن بنی اسرائیلو د حکم خلاف اوکړو او په دروازه کښې د کناتو پسرونو راښکودو ننوتل. او د حِطَّةٌ په بدله ئے حَبَّةٌ فِي شَعَرَةٍ یعنی دانه په وړګے کښې اووے. په یو روایت کښې دی چه حِنْطَةٌ فِي شَعَرَةٍ ئے ونیلو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ تَابَعَ الْوَحْيَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ وَفَاتِهِ حَتَّى تُوُفِّيَ وَأَكْثَرُ مَا كَانَ الْوَحْيُ يَوْمَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه الله پرله پسے وحی رالیږله په رسول اللهﷺ باندے د وفات نه مخکښې تر دے پورے چه دهغوی وفات راغے. او په کومه ورځ چه د حضرتﷺ وفات اوشو په هغه ورځ ډیره وحی راغله

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ أَنَّ الْيَهُودَ قَالُوا لِعُمَرَ إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ آيَةً لَوْ أُنْزِلَتْ فِينَا لَاتَّخَذْنَا ذٰلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا فَقَالَ عُمَرُ إِنِّي لَأَعْلَمُ حَيْثُ أُنْزِلَتْ وَأَيَّ يَوْمٍ أُنْزِلَتْ وَأَيْنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ أُنْزِلَتْ أُنْزِلَتْ بِعَرَفَةَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفٌ بِعَرَفَةَ قَالَ سُفْيَانُ أَشُكُّ كَانَ يَوْمَ جُمُعَةٍ أَمْ لَا يَعْنِي الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ

د طارق بن شهاب نه روایت دے یهودو حضرت عمرؓ ته اووے. تاسو یو آیت لولئ کچرے هغه آیت په مونږ خلقو نازل وے نو مونږ به په هغه ورځ اختر کولو (د خوشحالئ نه) هغه ایت دادے. اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا په سوره مائده کښې (یعنی نن ورځ ما ستاسو دین پوره کړو او خپل نعمت مے پتاسو باندے پورا کړو او د اسلام دین مے ستاسو د پاره غوره کړو) حضرت عمرؓ اووے. زۀ خبر یم چه دا ایت کوم ځائے او په کومه ورځ نازل شوے دے. او څۀ وخت چه نازلیدۀ نو هغه وخت رسول اللهﷺ چرته وو. دا ایت په عرفات کښې نازل شوے دے او حضرتﷺ حصار شوے وو په عرفات کښې (نو د عرفے ورځ

نِعْمَتِي

اختر دے د مسلمانو. په بل روایت کښې دي چه په هغه ورځ جمعه وه او جمعه هم اختر دے)

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ قَالَتِ الْيَهُودُ لِعُمَرَ لَوْ عَلَيْنَا مَعْشَرَ يَهُودَ نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةَ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا نَعْلَمُ الْيَوْمَ الَّذِي أُنْزِلَتْ فِيهِ لَاتَّخَذْنَا ذٰلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا قَالَ فَقَالَ عُمَرُ فَقَدْ عَلِمْتُ الْيَوْمَ الَّذِي أُنْزِلَتْ فِيهِ وَالسَّاعَةَ وَأَيْنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ نَزَلَتْ نَزَلَتْ لَيْلَةَ جَمْعٍ وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَفَاتٍ

د طارق بن شهاب ؓ نه روایت دے چه یهودو حضرت عمر ؓ ته اوونیل. کچرے دا ایت اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ الاٰية په مونږ یهودیانو نازل شوے وے او مونږ ته هغه ورځ معلومه وے نو مونږ به هغه ورځ د خپل اختر ورځ ګرځوله. نو حضرت عمر ؓ اوفرمائیل چه ما ته هغه ورځ معلومه ده په کومه ورځ چه هغه ایت نازل شوے دے او هغه وخت هم معلوم دے او هغه ځائے هم په کوم ځائے چه هغه وخت رسول الله ﷺ موجود وو دا ایت د مزدلفې په شپه نازل شوے دے. یعنی په نهم تاریخ د ماښام. یعنی د لسمے شپے وخت راغے (ځکه چه د مزدلفې شپه لسمه شپه وی) او مونږ د رسول الله ﷺ سره وو په مزدلفه کښې.

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ إِلَى عُمَرَ فَقَالَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ آيَةٌ فِي كِتَابِكُمْ تَقْرَءُونَهَا لَوْ عَلَيْنَا نَزَلَتْ مَعْشَرَ الْيَهُودِ لَاتَّخَذْنَا ذٰلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا قَالَ وَأَيُّ آيَةٍ قَالَ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا فَقَالَ عُمَرُ إِنِّي لَأَعْلَمُ الْيَوْمَ الَّذِي نَزَلَتْ فِيهِ وَالْمَكَانَ الَّذِي نَزَلَتْ فِيهِ نَزَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَفَاتٍ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ

د طارق بن شهاب ؓ نه روایت دے وائی چه یو یهودی د حضرت عمر ؓ خواله راغے اووئے وئیل. اے امیر المؤمنین یو ایت دے ستاسو په کتاب کښې چه هغې لره تاسو لولئ کچرے هغه په مونږه یهودویانو نازل شوے وے نو مونږ به هغه ورځ اختر کولو. حضرت عمر ؓ اووے کوم یو ایت هغه یهودوی اووے. اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ اخره پورے. حضرت عمر ؓ اووے زۀ خبر یم په هغه ورځ په کومه ورځ چه دا ایت نازل دے. او په هغه ځائے چرته چه نازل شوے دے دا ایت په رسول الله ﷺ باندے په عرفات کښې نازل شوے دے د جمعې په ورځ (او هغه ورځ اختر دے د مسلمانانو)

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ عَنْ قَوْلِ اللهِ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى

د عروه بن زبیر ؓ نه روایت دے چه دۀ د حضرت عائشې ؓ نه ددے ایت د مطلب تپوس اوکړو (د سورة النساء په شروع کښې

فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ قَالَتْ يَا ابْنَ أُخْتِي هِيَ الْيَتِيمَةُ تَكُونُ فِي حَجْرِ وَلِيِّهَا تُشَارِكُهُ فِي مَالِهِ فَيُعْجِبُهُ مَالُهَا وَجَمَالُهَا فَيُرِيدُ وَلِيُّهَا أَنْ يَتَزَوَّجَهَا بِغَيْرِ أَنْ يُقْسِطَ فِي صَدَاقِهَا فَيُعْطِيَهَا مِثْلَ مَا يُعْطِيهَا غَيْرُهُ فَنُهُوا أَنْ يَنْكِحُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يُقْسِطُوا لَهُنَّ وَيَبْلُغُوا بِهِنَّ أَعْلَى سُنَّتِهِنَّ مِنَ الصَّدَاقِ وَأُمِرُوا أَنْ يَنْكِحُوا مَا طَابَ لَهُمْ مِنَ النِّسَاءِ سِوَاهُنَّ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ ثُمَّ إِنَّ النَّاسَ اسْتَفْتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ هٰذِهِ الْآيَةِ فِيهِنَّ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ قُلِ اللهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ فِي يَتَامَى النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ قَالَتْ وَالَّذِي ذَكَرَ اللهُ تَعَالَى أَنَّهُ يُتْلَى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ الْآيَةُ الْأُولَى الَّتِي قَالَ اللهُ فِيهَا وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ قَالَتْ عَائِشَةُ وَقَوْلُ اللهِ فِي الْآيَةِ الْأُخْرَى وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ رَغْبَةَ أَحَدِكُمْ عَنِ الْيَتِيمَةِ الَّتِي تَكُونُ فِي حَجْرِهِ حِينَ تَكُونُ قَلِيلَةَ الْمَالِ وَالْجَمَالِ فَنُهُوا أَنْ يَنْكِحُوا مَا

کچرے تاسو یریږئ چه انصاف به او نۀ کړے شئ د یتیمانو جینکو سره نو نکاه اوکړئ د هغه ښځو سره چه هغه ستاسو خوښے وی دوه دوه ، درے درے ، څلور څلور حضرت عائشے اووے اے خما خوریه مراد ددے ایت نه دادے چه یتیمه جینئ د خپل ولی په غیږه کښ (یعنی په پرورش کښ لکه د تره لور چه د ورارهٔ سره وی) او شریك وی د هغے په مال کښ (مثلا د تره په مال کښ) بیا د هغه ولی د هغے حُسن او جمال خوښ شی. او هغه د هغے سره نکاح کول غواړی. لیکن د هغے په مهر کښ انصاف نۀ کوی. او دومره مهر نۀ ورکوی په څومره چه نور خلق ورکولو ته تیار وی. نو منع کړے ده الله تعالی دداسے جینکو سره د نکاح کولو نه مګر په هغه صورت کښ هر کله چه انصاف اوکړی. او په پوره مهر ورکولو باندے راضی شی. او حکم ئے کړے دے هغوی ته چه نکاح اوکړی د نورو ښځو سره کومے چه خوښے شی هغوی ته. حضرت عائشے اووے. خلقو ددے ایت د نازلیدو نه پس بیا د رسول الله ﷺ نه د هغه جینکو په باره کښ تپوس اوکړو. يَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ د اخره پورے (په دغه سورة النساء کښ) یعنی تپوس کوی ستاسو نه د ښځو په باب کښ . نو تۀ ورته اووایه الله تعالی تاسو ته حکم درکوی د هغوی په باب کښ او څۀ چه لوستے شی په کتاب کښ د هغه یتیمانو ښځو په باره کښ چه د هغوی تاسو مقرر مهر نۀ ورکوئ او د هغوی سره نکاح کول نۀ غواړئ نو د کتاب لوستلو نه مراد ړومبے ایت دے. او دا ایت د هغه یتیمے جینئ په باره کښ دے چه هغه په حُسن او مال کښ کمه وی. نو منع شوه دوی ته د هغه یتیمے

رَغِبُوا فِي مَالِهَا وَجَمَالِهَا مِنْ يَتَامَى النِّسَاءِ إِلاَّ بِالْقِسْطِ مِنْ أَجْلِ رَغْبَتِهِمْ عَنْهُنَّ

جینۍ سره نکاح کول د کومې چه مال او جمال ته رغبت کوی مګر په هغه صورت کښې کله چه انصاف کوی.

عَنْ عُرْوَةَ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ عَنْ قَوْلِ اللهِ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَزَادَ فِي آخِرِهِ مِنْ أَجْلِ رَغْبَتِهِمْ عَنْهُنَّ إِذَا كُنَّ قَلِيلاَتِ الْمَالِ وَالْجَمَالِ

د عروه نه روایت دے چه هغوی د حضرت عائشې نه د الله تبارك وتعالی دد ے قول په باره کښې تپوس اوکړو وَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُوا. او مخکښې پوره حدیث د یونس د حدیث پشان بیان کړو. او په آخر کښې دا زیاته کړه په وجه د بې میني د هغوی سره هر کله چه هغوی په مال او جمال کښې کمې وی.

عَنْ عَائِشَةَ فِي قَوْلِهِ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى قَالَتْ أُنْزِلَتْ فِي الرَّجُلِ تَكُونُ لَهُ الْيَتِيمَةُ وَهُوَ وَلِيُّهَا وَوَارِثُهَا وَلَهَا مَالٌ وَلَيْسَ لَهَا أَحَدٌ يُخَاصِمُ دُونَهَا فَلاَ يُنْكِحُهَا لِمَالِهَا فَيَضُرُّ بِهَا وَيُسِيءُ صُحْبَتَهَا فَقَالَ إِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ يَقُولُ مَا أَحْلَلْتُ لَكُمْ وَدَعْ هَذِهِ الَّتِي تَضُرُّ بِهَا

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روایت دے دا چه کوم الله فرمائیلی دی کچرے تاسو یریږئ د یتیمو جینکو په باره کښې د انصاف کولو نه نو دا آیت د هغه سړی په باره کښې نازل شوے دے د چا سره چه یوه یتیمه جینۍ وی او دے د هغې ولی او وارث وی او د هغې مال هم وی او څوك د هغې د طرفه جهګړه کونکے علاوه د هغې د ذات نه نۀ وی. پس هغه به دد غه مال په خیال سره د هغې سره نکاح نۀ کوی (چه مهر ورکول به پریوځی) او هغې له تکلیف ورکړی او په غلطه طریقه د هغې سره صحبت کوی. نو اوئې فرمائیل کچرے یریږئ د یتیمو جینکو سره د انصاف کولو نه نو نکاح کوئ د نورو ښځو سره کومې چه ستاسو خوښې شی. مطلب دا دے چه کومې ښځې حلالې کړې دی ما ستاسو دپاره او پریږدئ هغه جینۍ لره کومې ته چه تاسو تکلیف ورکوئ (چه هغه خپل نکاح د چا بل سره اوکړی او د هغې مال ورکړی)

عَنْ عَائِشَةَ فِي قَوْلِهِ وَمَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ فِي يَتَامَى النِّسَاءِ اللاَّتِي لاَ تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ قَالَتْ أُنْزِلَتْ فِي الْيَتِيمَةِ تَكُونُ عِنْدَ

د ام المؤمنين حضرت عائشې نه روایت دے چه دا الله تعالی فرمائیلی دی کوم چه تاسو لولئ د الله په کتاب کښې دا آیت نازل شوے دے د هغه یتیمې جینۍ په باره کښې چه هغه د یو سړی سره وی او د دۀ په مال کښې شریکه وی (د ترکې په وجه سره) بیا هغه

الرَّجُلِ فَتَشْرَكُهُ فِي مَالِهِ فَيَرْغَبُ عَنْهَا أَنْ يَتَزَوَّجَهَا وَيَكْرَهُ أَنْ يُزَوِّجَهَا غَيْرَهُ فَيَشْرَكُهُ فِي مَالِهِ فَيَعْضِلُهَا فَلَا يَتَزَوَّجُهَا وَلَا يُزَوِّجُهَا غَيْرَهُ

نفرت کوی د هغې سره د نکاح کولونه او د بل سره هم د هغې نکاح نهٔ خوښوی په دے خیال سره چه په مال کښې به رانه حصه واخلی. آخر هغه جینئ دغسے اوساتی نهٔ ئې پخپله په نکاح کوی او نهٔ ئې د بل چا سره نکاح ته پریږدی.

عَنْ عَائِشَةَ فِي قَوْله يَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ قُلْ اللهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ الْآيَةَ قَالَتْ هِيَ الْيَتِيمَةُ الَّتِي تَكُونُ عِنْدَ الرَّجُلِ لَعَلَّهَا أَنْ تَكُونَ قَدْ شَرِكَتْهُ فِي مَالِهِ حَتَّى فِي الْعَذْقِ فَيَرْغَبُ يَعْنِي أَنْ يَنْكِحَهَا وَيَكْرَهُ أَنْ يُنْكِحَهَا رَجُلًا فَيَشْرَكُهُ فِي مَالِهِ فَيَعْضِلُهَا

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے يَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ د آخره پورے. دا ایت د هغې یتیمے جینئ په باب کښې دے چه هغه د یو سړی سره وی او شریکه وی د هغهٔ په مال کښې تر دے پورے چه د کهجورو په اونو کښې هم. پس هغه د هغې سره نکاح کول نهٔ غواړی او نهٔ دا غواړی چه د هغې نکاح د بل سره اوکړی چه هغه د دهٔ په مال کښې شریك شی. پس هغه هم دغسے اوساتی.

عَنْ عَائِشَةَ فِي قَوْله وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ قَالَتْ أُنْزِلَتْ فِي وَالِي مَالِ الْيَتِيمِ الَّذِي يَقُومُ عَلَيْهِ وَيُصْلِحُهُ إِذَا كَانَ مُحْتَاجًا أَنْ يَأْكُلَ مِنْهُ

د ام المؤمنین حضرت عائشے صدیقےؓ نه روایت دے دا ایت وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ (د سوره نساء په شروع کښې) یعنی څوك چه مالدار وی هغه دِ ځان بچ اوساتی. او څوك چه محتاج وی هغه دِ د خپل محنت موافق خوری. نازل دے د هغه سړی په باره کښې چه هغه د یتیم د مال متولی وی هغه صحیح کوی او هغه سنبهالوی هغه کچرے محتاج وی. نو د دستور موافق دِ خوری. (او کچرے مالدار وی نو هیڅ دِ ترے نهٔ خوری)

عَنْ عَائِشَةَ فِي قَوْله تَعَالَى وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ قَالَتْ أُنْزِلَتْ فِي وَلِيِّ الْيَتِيمِ أَنْ يُصِيبَ مِنْ مَالِهِ إِذَا كَانَ مُحْتَاجًا بِقَدْرِ مَالِهِ بِالْمَعْرُوفِ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے دا آیت وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ د یتیم د ولی په باره کښې نازل شوے دے چه کچرے هغه محتاج وی نو د یتیم د مال نه د ضرورت مطابق استعمال کړی.

عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

د هشام نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ عَائِشَةَ فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ إِذْ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے. دا چه کوم الله تعالی فرمائیلی دی

جَاءُوكُمْ مِنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ قَالَتْ كَانَ ذَٰلِكَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ

(په سورة احزاب کښې هر کله چه راغې تاسو ته د پاسه ستاسو نه او د لاندې ستاسو نه او هر کله چه واپس شوې سترګې او زړه د حلقه پورې راغې د آخره پورې د خندق په ورځ نازل شوې دې (په هغه ورځ په مسلمانانو باندې ډيره سختي وه. الله تعالى فرمائيلي دی چه مونږ په هغه ورځ يو لښکر اوليږه او هوا په کافرانو باندې چه هغه تاسو نۀ وه ليدلې)

عَنْ عَائِشَةَ وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا الْآيَةَ قَالَتْ أُنْزِلَتْ فِي الْمَرْأَةِ تَكُونُ عِنْدَ الرَّجُلِ فَتَطُولُ صُحْبَتُهَا فَيُرِيدُ طَلَاقَهَا فَتَقُولُ لَا تُطَلِّقْنِي وَأَمْسِكْنِي وَأَنْتَ فِي حِلٍّ مِنِّي فَنَزَلَتْ هَٰذِهِ الْآيَةَ

د حضرت عائشې نه روايت دې چه دا ايت (په سورة النساء کښې) وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا د آخره پورې (يعنى کچرې يوه ښځه يريږى د خپل خاوند د شرارت نه يا د هغۀ د بې پروايئ نه نو هيڅ ګناه نشته په دواړو باندې کچرې صلح اوکړى په خپلو کښې) د هغې ښځې په باب کښې نازل دې چه هغه د يو سړى وى د څه مودې پورې. بيا خاوند ئې د طلاق ورکولو اراده اوکړى (د هغې نه بې زاره شى) نو هغه ښځه دۀ ته اووائى چه ما له طلاق مۀ راکوه زۀ به په دې کور کښې يم او ځما د طرفنه تا ته اجازت دې (د بلې ښځې سره د اوسيدو او ځما سره د نۀ اوسيدو) پس دا ايت نازل شو.

عَنْ عَائِشَةَ فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا قَالَتْ نَزَلَتْ فِي الْمَرْأَةِ تَكُونُ عِنْدَ الرَّجُلِ فَلَعَلَّهُ أَنْ لَا يَسْتَكْثِرَ مِنْهَا وَتَكُونُ لَهَا صُحْبَةٌ وَوَلَدٌ فَتَكْرَهُ أَنْ يُفَارِقَهَا فَتَقُولُ لَهُ أَنْتَ فِي حِلٍّ مِنْ شَأْنِي

ام المؤمنين حضرت عائشة دد دې ايت په باره کښې وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ د آخره پورې، اووې. دا ايت د هغه ښځې په باره کښې نازل شوې دې چه هغه د يو سړى سره وى اوس هغه نور د هغې سره اوسيدل نۀ غواړى او د هغه ښځې اولاد وى او صحبت ئې وى د خپل خاوند سره. او هغه خپل خاوند پريخودل بدګنړى. نو اجازت د ورکړى هغۀ ته پخپل باب کښې.

عَنْ عُرْوَةَ قَالَ قَالَتْ لِي عَائِشَةُ يَا ابْنَ أُخْتِي أُمِرُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِأَصْحَابِ النَّبِيِّ

د عروه نه روايت دې وائى حضرت عائشې ما ته اووې چه اې ځما د خور ځويه! حکم شوې وو خلقو ته چه بخښنه اوغواړى د صحابو

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَبُّوهُمْ

دپاره دوی هغوی ته بد اووے (هغه د بخشش د غوښتلو حکم په دے ایت کښی دے رَبَّنَا اغْفِرْلَنَا وَ لِإِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْإِيْمَانِ دد ے نه مراد اهل مصر دی چه حضرت عثمانؓ ته به ئے بد ونیل یا اهل شام چه حضرت علیؓ ته به ئے بد وے. او حروریه خارجی چه هغوی دوارو ته بد ونیل.

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د هشام نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْكُوفَةِ فِي هٰذِهِ الْآيَةِ وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ فَرَحَلْتُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَسَأَلْتُهُ عَنْهَا فَقَالَ لَقَدْ أُنْزِلَتْ آخِرَ مَا أُنْزِلَ ثُمَّ مَا نَسَخَهَا شَيْءٌ

د سعید بن جبیر نه روایت دے چه د کوفے خلقو اختلاف اوکړو په دے ایت کښی چه هر څوك چه مؤمن لره قصداً قتل کړی د هغهٔ بدله جهنم ده. (دا ایت په سورة نساء کښی دے) زهٔ د ابن عباسؓ حواله لاړم او د هغوی نه مے تپوس اوکړو. هغوی اووے دا ایت په آخر کښی نازل شوے دے او دا یو ایت هم نهٔ دے منسوخ کړے (پورته تیر شوی دی چه د ابن عباسؓ مذهب دادے چه هر کله څوك چه مؤمن لره قصداً قتل کړی د هغهٔ توبه نهٔ قبلیږی. او هغه به همیشه په جهنم کښی وی. جهمور علماؤ دد ے خلاف دی. دوی وائی د ایت نه دا وتلی ده چه بدله د هغے دا ده چه همیشه به په جهنم کښی وی. خو دا ضروری نهٔ ده چه دا بدله د خامخا واخستے شی. بلکه الله تعالیٰ ئے معاف کولے هم شی)

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فِي حَدِيْثِ ابْنِ جَعْفَرٍ نَزَلَتْ فِي آخِرِ مَا أُنْزِلَ وَفِي حَدِيْثِ النَّضْرِ إِنَّهَا لَمِنْ آخِرِ مَا أُنْزِلَتْ

د شعبه په دے اسناد سره د ابن جعفر په حدیث کښی دی چه دا ایت د آخرنی نازلیدونکو آیتونو نه دے. او د نضر په حدیث کښی دی چه دا آیت آخرنے نازلیدونکے ایت دے.

عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ أَمَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ أَبْزٰى أَنْ أَسْأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ هَاتَيْنِ الْآيَتَيْنِ وَمَنْ يَقْتُلْ

د سعید بن جبیرؓ نه روایت دے وائی چه ما ته عبد الرّحمٰن بن ابزیٰ اووے. د ابن عباسؓ نه تپوس اوکړه دد ے دوارو ایتونو په باره کښی وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا د آخره پورے ما تپوس اوکړو. هغوی

مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لَمْ يَنْسَخْهَا شَيْءٌ وَعَنْ هَذِهِ الْآيَةِ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ قَالَ نَزَلَتْ فِي أَهْلِ الشِّرْكِ

اووے دا آیت منسوخ نه دے او وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ (یعنی هغه کسان چه نه رابلی د الله سره معبود بل او کوم حق چه الله حرام کړے دے هغه نه وژنی مگر په حق سره. دد ے نه پس دادی مگر په حق سره. دد ے نه پس دادی إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا یعنی مگر څوک چه توبه اوباسی او ایمان راوړی او نیک کار کوی. دا آیت په سورة فرقان کښې دے. دد ے نه معلومیږی چه د قاتل توبه مقبوله ده (نو په ظاهر د مخکښنی آیت مخالف دے) ابن عباس وائی دا آیت د مشرکانو په حق کښې نازل دے (او مخکښنے آیت د مؤمنانو په حق کښې دے نو مؤمن چه بل مؤمن قصداً قتل کړی د هغهٔ توبه نهٔ قبلیږی. البته کهٔ مشرک د شرک په حالت کښې څوک اووژنی او بیا ایمان راوړی او توبه اوباسی نو د هغهٔ توبه قبوله وی. په دے صورت کښې په دواړو آیتونو کښې مخالفت پاتے نهٔ شو)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ بِمَكَّةَ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ إِلَى قَوْلِهِ مُهَانًا فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ وَمَا يُغْنِي عَنَّا الْإِسْلَامُ وَقَدْ عَدَلْنَا بِاللَّهِ وَقَدْ قَتَلْنَا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ وَأَتَيْنَا الْفَوَاحِشَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا إِلَى آخِرِ الْآيَةِ قَالَ فَأَمَّا مَنْ دَخَلَ فِي الْإِسْلَامِ وَعَقَلَهُ ثُمَّ قَتَلَ فَلَا تَوْبَةَ لَهُ

د ابن عباس نه روایت دے وائی چه دا آیت وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ إِلَى قَوْلِهِ مُهَانًا پورے په مکه کښې نازل شوے دے. مشرکانو اووے بیا زمونږ د مسلمانیدو څهٔ فائده ده. مونږ خو د الله سره بل برابر کړے دے او ناحق قتلونه او بدکارونه مو هم کړی دی. پس الله تعالی دا آیت نازل کړو إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ د آخره پورے یعنی څوک چه ایمان راوړی او توبه اوباسی الله تعالی به د هغهٔ بدئ په نیکو سره بدلے کړی. ابن عباس وائی هر څوک چه مسلمان شی او د اسلام احکام اوپیژنی بیا ناحق قتل اوکړی نو د هغهٔ توبه نهٔ قبلیږی.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ

د سعد بن جبیر نه روایت دے وائی چه ما ابن عباس ته اووے.

أَلِمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا مِنْ تَوْبَةٍ قَالَ لَا قَالَ فَتَلَوْتُ عَلَيْهِ هٰذِهِ الْآيَةَ الَّتِي فِي الْفُرْقَانِ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ قَالَ هٰذِهِ آيَةٌ مَكِّيَّةٌ نَسَخَتْهَا آيَةٌ مَدَنِيَّةٌ وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ هَاشِمٍ فَتَلَوْتُ عَلَيْهِ هٰذِهِ الْآيَةَ الَّتِي فِي الْفُرْقَانِ إِلَّا مَنْ تَابَ

څوك چه مومن قصداً مړ كړي د هغهٔ توبه قبليدے شي. ابن عباسؓ اووے نه ما هغوی ته دا ايت واورو وو كوم چه په سورهٔ فرقان كښ دے وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ د آخره پورې چه د هغے نه پس دا دے إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ (خكه چه دد ے نه دا وتلی دی چه د ناحق قتل نه پس توبه كيدے شي) ابن عباسؓ اووے دا ايت مكی دے او دے لره منسوخ كړے دے هغه ايت چه په مدينه كښ نازل دے. وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا د آخره پورے دد ے نه معلوميږی چه څوك قصداً عمداً قتل اوكړی د هغهٔ بدله هميشه په جهنم كښ اوسيدل دی.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ تَعْلَمُ وَقَالَ هَارُونُ تَدْرِي آخِرَ سُورَةٍ نَزَلَتْ مِنَ الْقُرْآنِ نَزَلَتْ جَمِيعًا قُلْتُ نَعَمْ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ قَالَ صَدَقْتَ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ أَبِي شَيْبَةَ تَعْلَمُ أَيُّ سُورَةٍ وَلَمْ يَقُلْ آخِرَ

د عبيد الله بن عبدالله بن عتبه نه روايت دے وائی چه ما ته عبد الله بن عباسؓ اووے. تهٔ خبر ئے چه آخر سورهٔ كوم چه په قران كښ په يو خل نازل شوے دے هغه كوم يو دے ما اووے آو إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ دے. ابن عباسؓ اووے تاسو رښتيا اووے.

عَنْ أَبِي عُمَيْسٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ آخِرَ سُورَةٍ وَقَالَ عَبْدِ الْمَجِيدِ وَلَمْ يَقُلْ ابْنِ سُهَيْلٍ

د ابوعميس نه په دے اسناد سره دغسے روايت دے. او اوئے وئيل آخری سورت. او ابومعاويه صرف عبد المجيد اووے. عبد المجيد بن سهيل ئے او نهٔ وے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَقِيَ نَاسٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ رَجُلًا فِي غُنَيْمَةٍ لَهُ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَأَخَذُوهُ فَقَتَلُوهُ وَأَخَذُوا تِلْكَ الْغُنَيْمَةَ فَنَزَلَتْ وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا وَقَرَأَهَا

د ابن عباسؓ نه روايت دے چه د مسلمانانو نه څهٔ خلقو يو سړے اوليدهٔ په لړو بزو كښ. هغهٔ اووے السلام عليكم. مسلمانانو هغه اونيوو او قتل ئے كړو. او هغه بزے ئے ترے واخستے. نو دا ايت نازل شو مهٔ وايئ هغهٔ ته چه سلام اوكړی تاسو ته دا چه ته مسلمان نهٔ ئے (يعنی د خپل خان بچ كولو دپاره سلام كوی) ابن عباسؓ په دے ايت

ابْنُ عَبَّاسٍ السَّلَامَ

کښې سلام لوستلے دے. او خنو مسلم لوستلے دے (نو معنی به دا شی چه هغه تاسو ته د صلح په غرض داسے اَووائی)

عَنِ الْبَرَاءِ يَقُولُ كَانَتِ الْأَنْصَارُ إِذَا حَجُّوا فَرَجَعُوا لَمْ يَدْخُلُوا الْبُيُوتَ إِلَّا مِنْ ظُهُورِهَا قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَدَخَلَ مِنْ بَابِهِ فَقِيلَ لَهُ فِي ذٰلِكَ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا

د براء نه روایت دے وائی انصار چه به هر کله حج کولو نه واپس راتلو نو کور ته به (په دروازه سره) نه راتلو بلکه د شا د طرفنه به (په دیوال ورختلو). یو انصاری راغے او په دروازه باندے کورته داخل شو خلقو د هغهٔ په باره کښې د هغهٔ سره خبرے اترے کولے. پس دا ایت نازل شو. (په سورة بقره کښې) دا نیکی نهٔ ده چه تاسو کورونو ته د شا د طرفنه راځئ. بلکه نیکی داده چه پرهیز ګاری کوئ او کورونو ته په دروازه سره راځئ د آخره پورے.

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ مَا كَانَ بَيْنَ إِسْلَامِنَا وَبَيْنَ أَنْ عَاتَبَنَا اللهُ بِهٰذِهِ الْآيَةِ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ إِلَّا أَرْبَعُ سِنِينَ

د ابن مسعود نه روایت دے د کوم وخت نه چه زهٔ مسلمان شوے یم د هغه وخت نه واخله دے ایت د نازلیدو د وخت پورے أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا د آخره پورے. یعنی څکه هغه وخت نهٔ دے راغلے هر کله چه د مسلمانانو زړهٔ اولړزیږی د الله تعالی د نوم اخستو سره په کوم چه الله تعالی عتاب کړے دے په مونږ باندے د څلورو کالو موده تیره شوه (د ایت په سورة حدید کښې دے او هغه مدنی دے)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَتِ الْمَرْأَةُ تَطُوفُ بِالْبَيْتِ وَهِيَ عُرْيَانَةٌ فَتَقُولُ مَنْ يُعِيرُنِي تِطْوَافًا تَجْعَلُهُ عَلَى فَرْجِهَا وَتَقُولُ الْيَوْمَ يَبْدُو بَعْضُهُ أَوْ كُلُّهُ فَمَا بَدَا مِنْهُ فَلَا أُحِلُّهُ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ

د ابن عباس نه روایت دے وائی چه ښځو به (د جاهلیت په زمانه کښې) د خانه کعبے طواف په بربنډه کوو. او وئیل به ئے څوک به را اکړی مالره یوه کپړه چه زهٔ ئے په خپل شرمګاه باندے واچوم. او وئیل به ئے نن به کهولاؤ یږی تول یا بعضے پس څهٔ چه کهولاؤ شی هغه به چرته حلال نهٔ کړے شی (یعنی هغه همیشه دپاره حرام شو دا بے هوده رسم اسلام موقوف کړلو) پس دا ایت نازل شو خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ یعنی هر جماعت ته چه ځی نو خپلے کپړے اغوندئ ځئ.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيِّ ابْنَ

د جابر نه روایت دے وائی چه عبد الله بن أبي بن سلول (د منافقانو

سَلُولَ يَقُولُ لِجَارِيَةٍ لَهُ اذْهَبِي فَابْغِينَا شَيْئًا فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَنْ يُكْرِهْهُنَّ فَإِنَّ اللهَ مِنْ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ

سردار) به خپلې وینځې ته وے چه خه زناکارئ پیسے گټه او راوړه نو الله تعالی دا ایت نازل کړو. (ترجمه:ظلم مهٔ کوئ په خپلو وینځو باندے د زنا دپاره کچرے هغه خان بچ کول غواړی د گناه نه دپاره ددے چه ددنیا مال اوگټئ او څوك چه په وینځو باندے زور زیاتے کوی (د بدکارئ دپاره) نو الله تعالی د زبردستئ نه پس د وینځو د گناه بخښونکے او مهربانه دے (یعنی هر کله چه مالك خپله وینځه په زور حرام کارئ ته تیاره وی نو گناه به په مالك وی او وینځه کچرے توبه اوباسی نو الله به هغه اوبخښی)

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ جَارِيَةً لِعَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيٍّ ابْنِ سَلُولَ يُقَالُ لَهَا مُسَيْكَةُ وَأُخْرَى يُقَالُ لَهَا أُمَيْمَةُ فَكَانَ يُكْرِهُهُمَا عَلَى الزِّنَى فَشَكَتَا ذَلِكَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَأَنْزَلَ اللهُ وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِلَى قَوْلِهِ غَفُورٌ رَحِيمٌ

د جابرؓ نه روایت دے چه د عبد الله بن أبیّ دوه وینځے وے چه د یوے نوم مُسیکه او د هغے بلے نوم أُمیمه وو. په دواړو به ئے په زور زیاتی سره زنا کوله نو هغوی رسول الله ﷺ ته شکایت اوکړو نو دا ایت نازل شو. وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِلَى قَوْلِهِ غَفُورٌ رَحِيمٌ. پورے[1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ قَالَ كَانَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ أَسْلَمُوا وَكَانُوا يُعْبَدُونَ فَبَقِيَ الَّذِينَ كَانُوا يَعْبُدُونَ عَلَى عِبَادَتِهِمْ وَقَدْ أَسْلَمَ النَّفَرُ مِنَ الْجِنِّ

د عبدالله بن مسعودؓ نه روایت دے (دا ایت د سورة بنی اسرائیل دے) د چا چه دوی عبادت کوی هغه خو د خپل رب سره وسیله طلب کوی (عبد الله) وائی د پیریانو د یو جماعت به عبادت کیدو هغه جماعت مسلمان شو. او عبادت کونکی لا هغسے د هغوی عبادت کولو او هغه جماعت مسلمانان شوی وو د عابدینو ته خبر

---

[1] نوویؒ وائی په دے ایت کښ چه کوم شرط دے کچرے هغه خان ساتل غواړی نو دا په غالب احوال باندے خکه چه جبر په هغه چا باندے دے چه هغه د زنا نه بچ کیدل غواړی او چه بچ کیدل نهٔ غواړی نو هغه خو بلا جبر زنا کوی. او مقصود دا دے چه د زنا دپاره په وینځه باندے جبر کول حرام دی خواه که هغه د زنا نه بچ کیدل غواړی یا نهٔ غواړی. او په کوم صورت کښ چه هغه د زنا نه بچ کیدل نهٔ غواړی بیا هم جبر کیدے شی په دے شان سره چه هغه د یو خاص سړی سره زنا کول غواړی او مالك ئے د بل سړی سره په زنا کولو باندے مجبوره کوی نو دا ټول صورتونه حرام دی. په یو روایت کښ دی چه د عبد الله بن أبیّ شپږ وینځے وے. معاده او مُسیکه او اُمیمه او عمری او اردی او قتیله. او هغهٔ به دا ټولے جبراً په زنا باندے چلولے.

نه وو شوي، هغه خلقو ددوی عبادت کولو نو دا آیت نازل شو أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ آخره پورے.

عَنْ سُلَيْمَانَ بِهَذَا الإِسْنَادِ

د سلیمان نه په دے اسناد سره روایت دے.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ قَالَ نَزَلَتْ فِي نَفَرٍ مِنَ الْعَرَبِ كَانُوا يَعْبُدُونَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ فَأَسْلَمَ الْجِنِّيُّونَ وَالإِنْسُ الَّذِينَ كَانُوا يَعْبُدُونَهُمْ لاَ يَشْعُرُونَ فَنَزَلَتْ أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے چه آیت أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ د عربو د څو خلقو په باره کښې نازل شو. چه د پیریانو عبادت ئے کولو هغه پیریان مسلمانان شو او هغه خلقو ته چه ددوی عبادت ئے کوو، معلومه نه شوه نو دا آیت نازل شو أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لاِبْنِ عَبَّاسٍ سُورَةُ التَّوْبَةِ قَالَ آلتَّوْبَةِ قَالَ بَلْ هِيَ الْفَاضِحَةُ مَا زَالَتْ تَنْزِلُ وَمِنْهُمْ وَمِنْهُمْ حَتَّى ظَنُّوا أَنْ لاَ يَبْقَى مِنَّا أَحَدٌ إِلاَّ ذُكِرَ فِيهَا قَالَ قُلْتُ سُورَةُ الأَنْفَالِ قَالَ تِلْكَ سُورَةُ بَدْرٍ قَالَ قُلْتُ فَالْحَشْرُ قَالَ نَزَلَتْ فِي بَنِي النَّضِيرِ

د سعید بن جبیر نه روایت دے وائی چه ما ابن عباس ته د سورة التوبه په باره کښې اووے هغوی اووے دا سورة ذلیله کونکے او فضیحت کونکے دے (کافرانو او منافقانو لره) په دے سورة کښې په مخه نازل شوی دی وَمِنْهُمْ وَمِنْهُمْ یعنی د خلقو حال څۀ داسے څۀ داسے دی تر دے پورے چه خلق پوهه شو چه هیڅوك باقی نۀ پاتے کیږی چه د هغوی ذکر او نۀ کړے شی په دے سورة کښې بیا ما د انفال په باره کښې ورته اووے. هغوی اووے هغه سورة خو دبدر د جنګ په باره کښې دے (په هغے کښې د لیت او غنیمت احکام ذکر شوی دی) بیا ما د سورة حشر په باره کښې اووے. نو هغوی اووے هغه د بنی نضیر په باره کښې نازل شوے دے

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ خَطَبَ عُمَرُ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ أَلاَ وَإِنَّ الْخَمْرَ نَزَلَ تَحْرِيمُهَا يَوْمَ نَزَلَ وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه حضرت عمر د رسول الله ﷺ په منبر باندے خطبه لوستله نو د الله تعالی د تعریف او ثنا نه پس ئے اوفرمائیل. خبردار! چه شراب حرام شوی وو نو د پنځۀ څیزونو نه به جوړیدل. د غنمو او وربشو

مِنَ الحِنطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالتَّمرِ وَالزَّبِيبِ وَالعَسَلِ وَالخَمرُ مَا خَامَرَ العَقلَ وَثَلَاثَةُ أَشيَاءَ وَدِدتُ أَيُّهَا النَّاسُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَهِدَ إِلَينَا فِيهَا الجَدُّ وَالكَلَالَةُ وَأَبوَابٌ مِن أَبوَابِ الرِّبَا

او كهجورو او انګورو او ګبين نه. او شراب هغه دى چه په عقل كښې فتور اوغورځوى (خواه كۀ د هر څۀ نه چه جوړ وى. او زۀ غواړم اے خلقو ! چه افسوس رسول الله ﷺ وعده اخستے وے زمونږ نه (مفصّل بيان ئے فرمائيلے د نيكۀ (يعنى د هغه د ترکے) او د كلاله او د سود د څو بابونو.

عَنِ ابنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعتُ عُمَرَ بنَ الخَطَّابِ عَلَى مِنبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَمَّا بَعدُ أَيُّهَا النَّاسُ فَإِنَّهُ نَزَلَ تَحرِيمُ الخَمرِ وَهِيَ مِن خَمسَةٍ مِنَ العِنَبِ وَالتَّمرِ وَالعَسَلِ وَالحِنطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالخَمرُ مَا خَامَرَ العَقلَ وَثَلَاثٌ أَيُّهَا النَّاسُ وَدِدتُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ عَهِدَ إِلَينَا فِيهِنَّ عَهدًا نَنتَهِي إِلَيهِ الجَدُّ وَالكَلَالَةُ وَأَبوَابٌ مِن أَبوَابِ الرِّبَا

عبد الله بن عمرؓ وئيلى دى چه ما اوريدلى دى د حضرت عمرؓ هغۀ د رسولؐ په منبر باندے وفرمائيل. د حمد او صلوة نه روستو! اے خلقو! هر كله چه د شرابو د حرمت حكم نازل شو، هغه وخت شراب د پنځو څيزونو نه جوړيدل . د انګورو ، كهجورو، شهدو، غنمو او د وربشو نه او شراب هغه دى چه په عقل كښې فتور غورځوى. او درے څيزونه داسے دى چه ځما لوئے خواهش وو چه رسول الله ﷺ مونږ ته (مفصل) احكام بيان كړى. د نيكۀ، د بے اولاده او د سود څو بابونه.

عَن أَبِي حَيَّانَ بِهَذَا الإِسنَادِ بِمِثلِ حَدِيثِهِمَا غَيرَ أَنَّ ابنَ عُلَيَّةَ فِي حَدِيثِهِ العِنَبِ كَمَا قَالَ ابنُ إِدرِيسَ وَفِي حَدِيثِ عِيسَى الزَّبِيبِ كَمَا قَالَ ابنُ مُسهِرٍ

ابوحيان نه په دے اسناد سره د پورتنو دواړو حدوثينو پشان روايت دے. مګر ددے يو راوى ابن عليه په حديث كښې د عِنَب لفظ دے او د عيسٰى په حديث كښې د زبيب څنګه چه ابن مسهر وئيلى دى.

عَن أَبِي ذَرٍّ يُقسِمُ قَسَمًا إِنَّ هَذَانِ خَصمَانِ اختَصَمُوا فِي رَبِّهِم إِنَّهَا نَزَلَت فِي الَّذِينَ بَرَزُوا يَومَ بَدرٍ حَمزَةَ وَعَلِيٍّ وَعُبَيدَةَ بنِ الحَارِثِ وَعُتبَةَ وَشَيبَةَ ابنَا رَبِيعَةَ وَالوَلِيدِ بنِ عُتبَةَ

د ابوذرؓ نه روايت دے چه هغۀ به قسم خوړلو (دا آيت په سورة حج كښې دے) يعنى دا دواړه جماعتونه د يو بل دشمنان دى چه جنګ كوى د خپل خپل رب دپاره نازل دے د هغه خلقو په حق كښې چه د بدر په ورځ (د صف نه) بهر وتلى وو د جنګيدو دپاره د مسلمانانو د طرفنه سيد الشهداء حمزه او حيدركرار حضرت على مرتضٰى او

عَنْ أَبِي هَاشِمٍ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا ذَرٍّ يُقْسِمُ لَنَزَلَتْ هٰذَانِ خَصْمَانِ بِمِثْلِ حَدِيثِ هُشَيْمٍ

عبیده بن حارث رضی الله عنهم وو. او د کافرانو د طرفنه عتبه او شیبه دواړه د ربیعه ځامن او ولید بن عتبه وو.
د ابوذر نه روایت دے هغهٔ به قسم خوړلو. هٰذَانِ خَصْمَانِ نازل شو (مخکښې) د هشیم د حدیث پشان (پوره حدیث بیان کړو)

یا الله زهٔ ستا شکر په کومه ژبه ادا کړم کچرے ټول بدن ژبے ژبے شی بیا هم ستا د عنایتونو او ستا د نعمتونو شکر به نهٔ شی ادا کولے تا مونږ له د دنیا ټول نعمتونه مال او اولاد او صحت او عافیت راکړی دی د ټولو نه لوئے نعمت دا دے چه تا زمونږ د کمزورو د طاقت نهٔ لرونکو لاسونو نه د دے عظیم الشان کتاب د لیکلو او ترجمه کولو کار واخستو. دا هغه کتاب دے چه د دے ټول احادیث صحیح دی او په دے باندے ټول مسلمانان بے خطرے عمل کولے شی. یا الله د دے کتاب دا ترجمه لیکل قبول کړه او ما ته د پاتے شوو او هیر شوو الفاظو معافی اوکړه. او خما په عمر او صحت کښې برکت واچوه چه ستا په مدد سره د صحیح بخاری هم ترجمه ختمه کړم. یا الله ما او بخښے خما مور پلار او خما رونړه او خما دوستان او استاذان او مشائخ لره یا الله مدد اوکړے د هغه خپل بنده چه د هغهٔ په اعانت سره د حدیث د کتابونو ترجمه کیږی او هغه څوک چه شپه او ورځ مشغول دی ستا او ستا د پیغمبر په کتاب کښې یا الله برکت واچوے د هغهٔ په عمر او په بخت کښې او برکت واچوے د هغهٔ په مال او اولاد کښې یا الله د دے کتاب لیکونکی لره او بخښے او چا چه چهاپ کړو او ټولو مؤمنانو سره او مؤمنانو ښځو لره او مسلمانانو سړو لره او مسلمانانو ښځو لره آمین یا رب العالمین

عبدك العاصی

وحید الزماں غفر الله له الخطایا والعصیان

الحمد لله د صحیح مسلم شریف کتاب مکمل شو.

مترجم او کمپوزر: حافظ حبیب الرحمٰن عفی عنه مردان

مصحح: مولانا عبدالوافی پینور

ناشر: تاج کمپنی لمیټډ







تاج کمپنی لمیٹڈ

www.tajcom.com

tajkutub@hotmail.com

حوالہ نمبر 474